كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِّيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ

تفسير

أحسن الكلام

پښتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي حفظه الله

از سورة طه تا سورة عنكبوت

جامعة عربية لإشاعة التوحيد والسنة

بده بير پشاور پاکستان

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسير

احسن الكلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء السادس

شپږم جزء

از سورة طه تا سورة عنكبوت

الناشر:
جامعة عربية لإشاعة التوحيد والسنة
بده بير- پشاور

سورۃ طٰهٰ مکیۃ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتها ١٣٥ رکوعاتها ٨

شروع کوم په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړم په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

طٰهٰ ﴿١﴾ مَآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْاٰنَ

نه دے نازل کړے مونږ په تا باندے قرآن

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورۃ طٰهٰ ، دیته سورۃ کلیم هم وائي۔

ربط :۔ دَ دے دَ تیرشوی سورت سره دا دے ، چه په هغه سورت کښې دَ توحید اثبات اوشو په جواب دَ شبهاتو سره نو اوس په دے سورت کښې تشجیع او ترغیب ورکوی په دعوت او تبلیغ دَ دغه مسئلے سره او دا رنګ دَ سوره مریم آخری آیت کښې هلاکت دَ تیرشوے منکر قومونو اجمالًا ذکر شوے وۀ۔ نو پدے سورت کښې دَ هغے نمونه ذکر کوی په واقعه دَ فرعونیانو سره۔

دعوٰی :۔ دَ دے سورت تشجیع ده په دعوت دَ توحید باندے سره دَ اثبات دَ توحید نه۔ آیاتونه دَ تشجیع شپږ دی۔ او واقعه دَ موسٰی علیه السلام او دَ ساحرانو حال پس دَ ایمان راوړلو نه دَ پاره دَ تشجیع ده۔

خلاصه دَ سورت :۔ په دے سورت کښې دوه حصّے دی۔ اوله حصه تر ٩٨ پورے ده۔ په دیکښې تمهید دے تر ٨ پورے په هغے کښې تشجیع ده په دعوت باندے په ٢ ٣ کښې۔ او پنځه عقلی دلیلونه دی سره دَ دعوے دَ توحید نه او دا واقعه دَ موسٰی علیه السلام ده دَ پاره دَ تشجیع۔

١ :۔ دا آیت دَ مقطعاتو نه دے۔ دَ هغے بحث تیرشوے دے دلته روایت دَ ابن جبیر دا دے چه دا په معنیٰ یا رجل سره دے " اے بهادر سړیه " او په لغت دَ قریشو کښې هم پدے معنیٰ سره استعمال شوے دے۔

لِتَشْقٰىٓ ② اِلَّا تَذْكِرَةً لِّمَنْ

چه په تکلیف شې مګر د دې د پاره چه یادداشت شي هغه چا لره

يَّخْشٰى ③ تَنْزِيْلًا مِّمَّنْ خَلَقَ

چه ډیره کوي. نازلیدل د هغه ذات د طرفنه چه پیدا کړیده

الْاَرْضَ وَالسَّمٰوٰتِ الْعُلٰى ④

زمکه او آسمانونه اوچت.

اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى ⑤

عام رحمتونو والا دے د عرش د پاسه برابر دے.

۲، ۳ :- دے دواړو آیاتونو کښ شجاعت ورکول او ترغیب دے په تبلیغ د قرآن کریم یعني د قرآن مقصد د انزال تذکره او نصیحت ورکول دی مقصد ئې مشقت او تکلیف نه دے او اِلَّا استثناء منقطع ده او تَذْكِرَةً کښ د ذکر نه ډیره مبالغه ده. او نه بل بحث کیدل.

لِتَشْقٰى د مشقت نه ماخوذ دے یا د شقاوت نه.

لِمَنْ يَّخْشٰى ، ئې د دے وجے نه ذکر کړلو چه فائده اخستل د قرآن نه په خشیت او په انابت باندے موقوف ده.

۴ :- په دے آیت کښ بیان د عظمت د کتاب الله دے - او دلیل عقلی اول دے په توحید باندے په ذکر د خالقیت د الله تعالٰی سره.

تَنْزِيْلًا ، بدل دے د تذکرة نه یا مفعول مطلق د پټ فعل د پاره یعني نُزِّلَ تَنْزِيْلًا ، تنزیل په اصل کښ تعلق د د خکته او د بره په مینځ کښ هر کله چه تنزیل کښ معنیٰ د خکته راتلو مخکښ ده . د دے وجے نه زمکه ئې مخکښ ذکر کړیده.

۵ :- دا دویم دلیل دے په ذکر د صفت د رحمانیت د الله تعالٰی او فوقیت په عرش باندے او د استوٰی او عرش معنیٰ ښکاره ده یعني د عرش د پاسه دے - او عرش د آسمانونو د پاسه دے هاں د هغې کیفیت د مخلوق سره هیڅ مشابهت نه لري او دا عقیده د ټولو

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي

خاص دَ هغه اختيار کښ دي هغه څيزونه چه آسمانونو کښ دي او هغه چه

الْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَمَا تَحْتَ

زمکه کښ دي او هغه چه دَدے دواړو په مينځ کښ دي او هغه چه لاندے

الثَّرٰى ﴿۶﴾ وَاِنْ تَجْهَرْ بِالْقَوْلِ

دَ لوندو خټو نه دي. او که ته ښکاره وينا کوے

فَاِنَّهٗ يَعْلَمُ السِّرَّ وَاَخْفٰى ﴿۷﴾

نو يقينًا الله تعالىٰ پوهيږي په پټه او په ډير پټه.

سلف صالحينو او ائمه مجتهدينو ده. او دَ امام ابوحنيفه رحمه الله نه روايت دے چه چا داسے اوئيل چه زه نه پوهيږم چه رب زما په آسمان کښ دے يا په زمکه کښ دے نو هغه سړي کفر اوکړو ځکه چه الله تعالىٰ فرمائي الرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى دا په فقه اکبر او شرح عقيده طحاويه کښ ذکر شوي دي. دَ امام مالک رحمه الله نه نقل دے هغه فرمائيلي دي چه استواء مجهول نه ده (يعني معنىٰ ئے معلومه ده) او کيفيت دَ استواء معقول نه دے او ايمان پدے باندے فرض دے او بحث تپوس نه کول دَ دے نه بدعت دے.

سـ: دا دريم دليل دے په توحيد باندے. مراد دا دے چه تصرف دَ ټول عالم الله تعالىٰ له خاص دے او په خلق پسے صفت دَ تصرف ذکر کړو چه څوک وهم او نکړي چه خلق به هغه کړے وي ليکن تصرف به ئے بل چا نه سپارلے وي. الثرىٰ، لوندے خټے دي يعني دَ اووے زمکے دَ لاندے چه څه دي نو الله تعالىٰ په هغے عالم دے او په هغے کښ تصرف کوي.

سـ: دا څلورم دليل دے او مراد ترينه احاطه دَ علم دَ الله تعالىٰ ده په هر پټ او ښکاره باندے دَ صفت دَ خلق او دَ تصرف سره صفت دَ علم لازم دے.

السِّرَّ نه مراد پټه خبره کول دي دَ يو راز دار سره او اَخْفٰى نه مراد دا دے چه په زړه کښ ئے پټ اوساتي.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط لَهُ

الله تعالىٰ دے نيشته حقدار د بندګۍ سوا د هغه نه خاص هغه لره دي

الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ﴿۸﴾ وَهَلْ

نومونه خائسته - او ایا (یقینًا)

اَتٰىكَ حَدِيْثُ مُوْسٰى ﴿۹﴾ اِذْ رَاٰ

راغلې دے تاته خبر د موسیٰ علیه السلام - کله چه اولیدلو

نَارًا فَقَالَ لِاَهْلِهِ امْكُثُوْٓا اِنِّيْٓ

اور نو وے ویئیل کوروالو ته حصار شئ یقینًا ما

۸:- دا دعوىٰ د توحید ده او ورسره پنځم دلیل دے۔
اَلْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى ، هغه دي چه الله تعالیٰ ځان د پاره په منزلو کتابونو خپلو کښ بیان کړے دي یا انبیاء علیهم السلام د الله تعالیٰ د پاره ثابت کړے وي۔ او حُسْنٰى ځکه دي چه په کمال دلالت کوي او شریک پکښ نشي کیدلے او قدیم او همیشه وي او په نقل د وحی باندے بنا دي او الله تعالیٰ په هغے کښ مخلوق ته محتاج نه دے۔
۹:- خلاصه: د دے آیت نه تفصیل د قصے د موسیٰ علیه السلام شروع کیږي۔ او لوے مقصد پکښ شجاعت او بهادري ورکول دي۔ په تیرولو د مصیبتونو د دعوت سره پشان د موسیٰ علیه السلام او د ساحرانو روستو د ایمان راوړلو نه۔ او په دے واقعه د دے سورت کښ شپږ مقامات دي۔ اول مقام د دے آیت نه شروع دے تر ۲۴ پورے په یکښ ذکر دے د حال د واپسۍ د موسیٰ علیه السلام د مدین نه مصر ته او سپارل د رسالت دي هغه ته په توحید سره او دوه حکمونه د پاره د تکمیل د توحید او اخبار د قیامت دے او تثبیت او تشجیع ده او ذکر د دوه معجزاتو د موسیٰ علیه السلام دے۔
وَهَلْ اَتٰىكَ ، په دے سره مقصد تنبیه ده ۔ هَلْ په معنیٰ د قد سره دے۔

اٰنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّیْٓ اٰتِیْكُمْ مِّنْهَا

لیدلے دے اُور کیدے شي چه راوړم تاسو ته دَ هغے نه

بِقَبَسٍ اَوْ اَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى ⑩

لیت (شغله) یا به ادمومم دَ اُور په خوا کښ لار خودونکے.

فَلَمَّآ اَتٰىهَا نُوْدِیَ یٰمُوْسٰى ⑪

پس هر کله چه راغے هغه ته اواز ورکړے شو اے موسیٰ.

اِنِّیْٓ اَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَیْكَ ۚ

یقیناً زهٔ رب ستا یم نو اوباسه کیرۍ خپلے.

اِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ⑫

یقیناً ته په لمن دَ غر کښ ئے چه پاکه ده نوم ئے طوی دے.

سنا:۔ اُور ئے ورته په اعتبار دَ ګمان دَ موسیٰ علیه السلام اوویلو او دَ سورة نمل او سورة قصص نه معلومیږی چه مقصد ئے دَ قبس نه ګرم والے حاصلول وو او لار ترینه ورکه شوے وه دَ دے وجے دَ هادی ذکر ئے اوکړو. او حرف او دَ پارهٔ دَ منع دَ خلو دپاره یعنی جمع کیدل دا دواړهٔ مقصد وو نه هم کیدیشی عَلٰی په معنیٰ دَ عِنْدَ دے.

سلا:۔ نُوْدِیَ نه مراد دا دے چه دَ اونے دَ طرف نه آواز اوکړے شو دا سے په سورة قصص کښ هم راغلی دی.

سلا:۔ دا تفصیل دَ نداء دے په دیکښ اول تعین دَ منادی دے چه الله تعالیٰ دے او بیان دَ آدب دے چه خپلے کیرۍ اوباسه کهٔ په هغے کیړو کښ نجاست وی نو ویستل ئے ضروری دی او کهٔ په هغے کښ نجاست نهٔ وی نو ویستل ئے ادب دے.

طُوًی، دا نوم دے دَ هغه پاک میدان چه په هغے کښ برکات راغونډ کړے شویدی او آیت دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام نعلین استعمال کړے دی اګرچه دَ هغے کیفیت متعین نه دے.

وَاَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا

او ما ته غوره کړے ئے نو غوږ کیږده هغې ته چه تا ته ئے

يُوْحٰى ⑬ اِنَّنِىْٓ اَنَا اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ

وحی کیږي شي۔ یقینًا زه الله یم نیشته حقدار د بندګۍ

اِلَّآ اَنَا فَاعْبُدْنِىْ ۙ وَاَقِمِ الصَّلٰوةَ

سوا زما نه نو بندګي خاص کوه ما لره او پابندي د مانځه کوه

لِذِكْرِىْ ⑭

د پاره د یادداشت زما۔

۱۳:۔ په دے آیت کښ ذکر د رسالت دے د موسٰی علیه السلام په اَخْتَرْتُكَ سره او بیا حکم دے په اوریدلو د وحی سره۔
مراد د اِخْتَرْتُكَ نه غوره کول او منتخب کول دی د پاره د رسالت اشاره ده چه رسول د باقی مخلوق نه غوره وی۔
فَاسْتَمِعْ اشاره ده چه د رسول اوله ذمه واری د الله تعالٰی وحی ته په پوره توجه سره غوږ کیخودل دی۔
۱۴:۔ په دے آیت کښ ئے د وحی درے اجزاء ذکر کړیدی۔ اول جز مسئله د توحید، دویم جز امر کول په عبادت سره د پاره د عمل د توحید، او دریم جز حکم کول دی خاص په مانځه سره یعنی توحید د الوهیت او توحید د عبودیت او توحید د حکم کښ۔
اَقِمِ الصَّلٰوةَ، په دیکښ ذکر د آدب دے د پاره د دعوت کوونکی د حق چه د مونځ پابندي او ذکر الٰهی کښ مشغولیت دے۔
لِذِكْرِىْ، کښ دیرے معنے دی۔ اول دا چه د ذکر نه مراد توحید دے یعنی مونځ کوه د پاره د مضبوطیدلو په توحید باندے۔
دویمه معنٰی یادول د الله تعالٰی په مانځه کښ۔
دریمه معنٰی دا ده چه کله مونځ درنه هیر شی یا اوده پاتے شے د مانځه نه نو کله چه رایاد شی درته مونځ نو په هغه وخت کښ.

إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ أَكَادُ أُخْفِيهَا

یقینًا قیامت راتلونکې دے غواړم چه پټه یې اوساتم.

لِتُجْزَىٰ كُلُّ نَفْسٍ بِمَا تَسْعَىٰ ﴿١٥﴾

دَ پاره دَ دے چه بدله ورکړے شي هر نفس ته دَ هغه عمل چه دَه کړے وي.

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنْهَا مَنْ

نو وا دے نه یړوي تا لره دَ دے نه هغه څوک چه

لَا يُؤْمِنُ بِهَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ

ایمان نه راوړي په دے باندے او تابع وي دَ خواهش خپل

فَتَرْدَىٰ ﴿١٦﴾

نو هلاک به شې.

اوکړه - او حدیث صحیح کښ هم دا مضمون دے. نو په یکښ دلیل دے چه څوک قضلی دَ مونځونو روستو کوي دَ رمضان آخري جُمعے ته او هغے ته قضاءِ عمري وائي نو دا خلاف کول دي دَ دے آیت او دَ صحیح حدیث نه.

۱۵:- په دے آیت کښ دَ وحی څلورم جز دے چه هغه راتلل دَ قیامت دي. ځکه چه توحید او ایمان په آخرت دواړه اصل دَ اصولو دَ ایمان دي. دا یې بغیر دَ حرف عطف نه ذکر کړے دے ځکه چه علت دے دَ پاره دَ ما قبل. دا رنګ دا مستقل حکم دے.

أَكَادُ أُخْفِيهَا دَ دے دوه معنے دي. اوله معنی دا چه نیزدے ده چه ښکاره به کړم قیامت لره. دویمه معنی دا ده چه غواړم نه یې پټ ساتل دَ علم دَ قیامت دَ مخلوق نه. ځکه چه اخفاء په لغت دَ عرب کښ دَ اضداد نه دے یعني ښکاره والے او پټ والے دواړو دَ پاره استعمالیږي. په روستو معنی سره أَكَادُ په معنی دَ ارید سره دے. لِتُجْزَىٰ. په اوله معنی سره دا تعلق لري دَ أُخْفِيهَا سره او په دویمه معنی کښ تعلق لري آتِيَةٌ سره.

۱۶:- په دے آیت کښ تشجیع ده موسیٰ علیه السلام ته په مضبوط

وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يٰمُوسٰى ﴿١٧﴾

او څه دي ستا په ښي لاس کښې اے موسیٰ.

قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُا عَلَيْهَا

اوئیل هغه دا همسا زما ده تکیه لګوم په دے باندے

وَأَهُشُّ بِهَا عَلٰى غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا

او راښتوم پانړے په دے سره په ګډو باندے او ما لره په دے کښې

مَآرِبُ أُخْرٰى ﴿١٨﴾

فائدے نورے دي.

کیدلو سره په دغه وحی باندے او په بیان کولو دَ هغے سره. او دا سے په سورة قصص سکٰ۸ کښې هم ذکر دي او دا دوه صفتونه علٰ عدم ایمان په آخرت عٰ۲ او اتباع دَ خواهش بنیاد دے دَ ټولو خباثتو دَپاره او په دیکښې اشارة ده فرعون ته لیکن صفات ئے ذکر کړل دَپاره دَ دے چه عام شی.

فَتَرْدٰى په اصل کښې دَ بره نه ښکته را غورځولو ته وئیلے شی مراد تری نه هلاکت دے او اشارة ده چه دعوت دَ حق پریښودل سبب دَ ذلت دے په دنیا کښې او سبب دَ جهنم دے په عقبیٰ کښې.

سکٰ۱۷:- په دے آیت کښې تمهید دے دَپاره دَ معجزے ورکولو موسیٰ علیه السلام ته او مقصود په دے تپوس سره بیا نول دَ موسیٰ علیه السلام دی فائدو دَ همساء لره. لیکن دَ مارجو ړیدلو فائده ورته معلومه نه وه نو دلیل دے چه دا معجزه ده او حرف دَ مَا دَپاره دَ تپوس دَ شرح دَ فوائدو دے.

بِيَمِينِكَ. دا دلیل دے په دے خبره چه همسا استعمالول په ښی لاس سره دَ پیغمبرانو سنت دی.

سکٰ۱۸:- په دے جواب کښې څلور جملے دی دَ اولے جملے مطلب دا دے چه دا همساء پردئ نه ده بلکه زما ده او اوګدول دَ کلام دَ وجے دَ محبت

قَالَ اَلْقِهَا يٰمُوْسٰى ﴿۱۹﴾ فَاَلْقٰهَا

او ئیل الله تعالیٰ اوغورځوه دا (همسا) اے موسیٰ۔ نو او غورځوله هغه

فَاِذَا هِيَ حَيَّةٌ تَسْعٰى ﴿۲۰﴾

نو دغه وخت هغه مار شو منډے ئے وهلے۔

نه دی او دریمه جمله کښ ذکر دَ دوؤ فائدو دے۔ اوله فائده دَ ځان سره تعلق لری۔ او دویمه فائده دَ خاروُ سره تعلق لری۔ او په څلورمه جمله کښ اشاره ده ډیرو فائدو دَ همساء ته او په دیکښ ترغیب دے چه استعمالول دَ همساء نیۃ کار دے او سنت دی۔ او آیت دلیل دے چه کلهے بیزے سرول دَ نبوت نه وړاندے تادیب دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه انبیاؤ ته داسے په حدیث صحیح کښ دی چه هر یو نبی کلهے بیزے دَ نبوت نه مخکښ سرولے دی۔

س۱۹:۔ په دے کښ مقصد بله فائده ښکاره کول دَ همساء دی په طریقه دَ معجزے سره او دا فائده دَ موسیٰ علیه السلام په علم کښ نه وه نو دا معجزه وه۔ او اَلْقِهَا کښ اشاره ده چه مخکښ فائدے په هغه وخت کښ دی چه همساء ستا په لاس کښ وی او اوس داسے فائده اوګوره چه دَ لاس نه بغیر وی۔

ش۲۰:۔ حَيَّةٌ، اسم جنس دے مطلق مار ته وائی که غټ وی او که نرے وی۔ نو سورۂ نمل او سورۂ قصص کښ فرمائیلی دی۔ كَاَنَّهَا جَآنٌّ، یعنی دَ نری مار پشان وؤ۔ او سورۂ اعراف او سورۂ شعراء کښ ذکر دے ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ، ښامار ښکاره وؤ۔ نو لفظ حَيَّةٌ دواړو ته شامل دے۔ دلته مقصد انقلاب دَ حقیقت دے چه دَ لرګی نه مار جوړیږی او پدے باندے لفظ دَ حَيَّةٌ پوره دلالت کوی۔

قَالَ خُذْهَا وَلَا تَخَفْ سَنُعِيْدُهَا

اُوئیل الله تعالٰی اونیسه دا او مه ویریږه زردے او به گرځوو دا

سِيْرَتَهَا الْاُوْلٰى ﴿٢١﴾ وَاضْمُمْ يَدَكَ

حالت دَ دے مخکنی ته۔ او جوخت کړه لاس خپل

اِلٰى جَنَاحِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ

دَ خپل ترخ سره را اوبه اوځی سپین

مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ اٰيَةً اُخْرٰى ﴿٢٢﴾

بغیر دَ نقصان نه نښه بله ده۔

لِنُرِيَكَ مِنْ اٰيٰتِنَا الْكُبْرٰى ﴿٢٣﴾

دَپاره دَ دے چه اوښایو مونږ تاته دَ نخو زمونږه لویو نه۔

س٢١:۔ معلومه شوه چه دَ ظاهری اسبابو نه طبعی ویره کول دَ کمال سره منافات نه لری۔ او دَ دے آیا تونو نه معلومه شوه چه کومه معجزه وه یعنی دَ همساء نه مار جوړیدل او دوباره همساء ته واپس کیدل دا دَ موسٰی علیه السلام اختیار کښ نه وو له دے وجے نه هغه ته ئے نسبت اونه کړو۔ او همساء خوځول او بیا رانیول اختیاری کار وَ نه دی معجزات نه دی نو دَ هغے نسبت ئے موسٰی علیه السلام ته اوکړو۔

س٢٢:۔ په دے آیت کښ دویمه معجزه ذکر کړے شوے ده۔ جَنَاح، په معنٰی دَ مټ دے بیا مراد دَ دے نه اړخ دے۔ یعنی دَ مټ دَ لاندے سُوْٓءٍ په معنٰی دَ داسے مرض او نقصان سره چه انسان لره خفه کوی په اوله معجزه کښ غلبے دَ حجت دَ موسٰی علیه السلام ته اشاره ده او په دویمه کښ رڼا او وضاحت دَ دلیل ته اشاره ده۔

س٢٣:۔ مراد دَ دینه هلاکت دَ فرعون او دَ قوم دَ هغه دے په سبب دَ انکار کولو دَ معجزاتو نه۔ ځکه دا دَ قدرت او توحید دَ الله تعالٰی ښکاره دلیل دے۔

اِذْهَبْ اِلٰى فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ
لاړ شه | فرعون ته | یقینًا دی
طَغٰى ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِیْ
سرکشي کړېده - | اوویل موسیٰ | اے ربه پراخه کړه | ماله
صَدْرِیْ ﴿۲۵﴾ وَیَسِّرْ لِیْۤ اَمْرِیْ ﴿۲۶﴾
سینه زما - | او آسان کړه ماته | کار زما -

۲۴ :- دے آیت کښې فرعون ئے خاص کړو په ذکرکولو سره اګر چه رسالت د موسیٰ علیه السلام د هغه قوم ته هم عام وو - دا د دے وجے نه چه فرعون پابندی لګولے وه په هر دعوت کونکی د حق باندے او قوم ئے منع کړے وو د حق اوریدلو نه او دا د ده طغیان وو -

اِنَّهٗ طَغٰى ، دا علت دے د پاره د رسول لیږلو خصوصًا -

۲۵ :- خلاصه: د دے آیت نه دویم مقام شروع کیږی ترآیت ۳۶ پورے په یکښې دُعا د موسیٰ علیه السلام ده په شپږ وخبرو سره او قبولیت د هغے دُعاګانو دے د الله تعالیٰ د طرف نه په طریقه د احسان سره - او ذکر د احسانونو مخکښو دے اجمالًا بیا حکم کول دی موسیٰ علیه السلام ته چه لاړ شه فرعون ته سره د بهادرئ نه -

فائده: د سینے د پرانستلو نه مراد توفیق د صبر او د استقامت دے په وخت د مصیبتونو د رسالت کښې - او رفع د شکونو او شبهاتو ده او دا اشاره ده رفع د موانعو د دعوت نه -

۲۶ :- په دے آیت کښې دویمه دُعا ده او مراد د دے نه اسباب ظاهری او باطنی حاصلول دی چه په هغے سره کار د رسالت آسانیږی -

وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ ﴿٢٧﴾

او پرانیزے غوټه دَ ژبے زما

يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ ﴿٢٨﴾ وَاجْعَلْ لِّيْ

چه پوهه شي دوی په وینا زما. او جوړ کړه ما لره

وَزِيْرًا مِّنْ اَهْلِيْ ﴿٢٩﴾ هٰرُوْنَ

ملګرے دَ کورنۍ زما نه - هارون

اَخِيْ ﴿٣٠﴾

ورور زما-

س٢٧، س٢٨ :- په دے آیاتونو کښ دریمه دُعا ذکر شوے ده او دَ هغې فائده ذکر شویده - او دَ ژبے دَ غوټے نه مراد ظاهري نقصان وو دَ هغه په ژبه کښ یا مراد دینه بندیدل دَ ژبے دي دَ وجے دَ هیبت نه - او دا دَ دعوت کوؤنکی دَپاره ضروري دي-

يَفْقَهُوْا قَوْلِيْ، اشاره ده چه په اقوالو او سنت دَ نبی باندے پوهیدلو ته فقاهت وئیلے شي-

س٢٩، س٣٠ :- په دے آیاتونو کښ څلورمه دُعا ذکر ده په باره دَ ورور دَ موسیٰ علیه السلام کښ او دا نهایت احسان دے دَ یو ورور دَ بل ورور سره - او مراد دَ وَزِيْرًا نه شریک دے دَ نبوت په بوج کښ - یعني بوج دَ رسالت ګران دے په دیکښ قریبي مدد ګار پکار دے -

مِنْ اَهْلِيْ او اَخِيْ کښ اشاره ده. دا سے ملګرے پکار دے چه په هغه باندے اعتماد کیدے شي-

اشْدُدْ بِهٖٓ اَزْرِيْ ﴿٣١﴾ وَاَشْرِكْهُ فِيْٓ

کلکه کړے په ده سره ملا زما۔ او برخه ورکړے ده لره په

اَمْرِيْ ﴿٣٢﴾ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٣﴾ وَ

کار زما کښ۔ دے د پاره چه ستا تسبيح وايو ډيره۔ او

نَذْكُرَكَ كَثِيْرًا ﴿٣٤﴾ اِنَّكَ كُنْتَ بِنَا بَصِيْرًا ﴿٣٥﴾

ياد دې تا لره ډير۔ يقيناً ته مونږ لره وينے۔

قَالَ قَدْ اُوْتِيْتَ سُؤْلَكَ يٰمُوْسٰى ﴿٣٦﴾

او ئيل الله تعالىٰ درکړے شو غوښتلے شوي څيز ونه تا ته اے موسىٰ۔

وَلَقَدْ مَنَنَّا عَلَيْكَ مَرَّةً

او يقيناً احسان کړيدے مونږ په تا باندے بل

۳۱، ۳۲:۔ دا پنځمه او شپږمه دُعا ده په دے کښ مقصد علت د تخصيص د ورور دے په دے دُعا سره څکه چه ملا مضبوطيږي په ملګرتيا د ورور سره۔

وَاَشْرِكْهُ، په دے کښ تصريح ده چه مراد د وزارت نه هسے ملګرتيا نهٔ ده بلکه مراد ترينه پيغمبري ده۔ او دا آيت دليل دے په دے خبره چه نبوت ورکول الله تعالىٰ نه سوا د بل چا اختيار کښ نشته دے۔

۳۳، ۳۴:۔ په دے آيتونو کښ د ملګرتيا د رسالت فائده بيانوي۔ د تسبيح نه مراد رد دے په شرک باندے او ذکر نه مراد دعوت د توحيد دے۔

۳۵:۔ په دے آيت کښ ذکر د يو صفت د الله تعالىٰ دے د پاره د وسيلے د دُعا۔

۳۶:۔ په دے آيت کښ ئے قبوليت د دُعاګانو ذکر کړے دے۔ سُؤْلَ په معنىٰ د مسئول سره دے ټول مسئولات دُعاګانے مخکښ مراد دي۔

أُخْرٰىٓ ﴿٣٧﴾ إِذْ أَوْحَيْنَآ إِلٰىٓ أُمِّكَ مَا

ځل ـ کله چه خبر ورکړو موږ ستا مور ته هغه چه

يُوحٰىٓ ﴿٣٨﴾ أَنِ اقْذِفِيهِ فِي التَّابُوتِ

خبر ورکيدی شو ـ چه واچوه دَه لره په صندوق کښې

فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ فَلْيُلْقِهِ الْيَمُّ

بيا واچوه صندوق په دریاب کښې نو اوويه غورځوي دَه لره دریاب

بِالسَّاحِلِ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ

په غاړه باندې او به نيسي دَه لره دُشمن زما او دُشمن دَ دَه،

وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي

او واچوله ما په تا باندې مينه دَ خلقو دَ طرف زما نه

وَلِتُصْنَعَ عَلٰى عَيْنِيٓ ﴿٣٩﴾

او دَ پاره دَ دې چه پالنه اوکړې شي ستا په سترګو زما باندې.

٣٧ـ په دې کښې اشاره ده چه قبوليت دَ دعا احسان دے دَ طرف دَ الله تعالىٰ نه يعني الله تعالىٰ دَ چا نه مجبوره نهٔ دے.

٣٨ ته ترسه پورې په دې کښې بيان دَ احسان رومبنې دے په نجات دَ موسىٰ عليه السلام سره دَ قتل نه او په تربيت دَ هغه په غيږ دَ مور کښې او نجات دَ غم دَ قتل کولو دَ قبطي نه ـ او ډيرو مصيبتونو او امتحانونو کښې مبتلا کيدل ـ او په مدين کښې دَ امن ژوند تيرول. او دَ دې نعمتونو تفصيل په سوره قصص کښې دَ ٦ نه ترسه ٢٨ پورې دے. او مراد دَ وحی نه په ٣٨ کښې الهام دے په واسطه دَ ملک (فرښتې) سره او دا کرامت دَ اولياؤ دے.

اليَمّ، درياب نيل مراد دے چه دَ مصر په مينځ کښې بهيدلے وؤ. او مراد دَ مَحَبَّةً نه په آيت ٣٩ کښې دا سې محبت دے چه چا به موسىٰ عليه السلام ليدلو نو مينه به ئې ور سره پيدا کيدله او خاص

إِذْ تَمْشِيٓ أُخْتُكَ فَتَقُولُ هَلْ

کله چه روانه وه ستا خور نو وې وئیل آیا

أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ مَن يَكْفُلُهُۥ ۖ فَرَجَعْنَٰكَ

او خایم تاسو ته هغه څوک چه د دهٔ پالنه به کوي، نو واپس او گرځولے مونږ ته

إِلَىٰٓ أُمِّكَ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ

ستا مور ته دے د پاره چه یخے شي سترگے د هغې او نه خفه کیږي

وَقَتَلْتَ نَفْسًا فَنَجَّيْنَٰكَ مِنَ ٱلْغَمِّ

او وژلو تا یو تن پس بچ کړے مونږ ته د غم نه زیرے اخستلو نه)

وَفَتَنَّٰكَ فُتُونًا ۚ فَلَبِثْتَ سِنِينَ

او از میښتو نه راوستل مونږ به تا پاندے ډیر از میښتو نه، بیا حصار شوے څو کاله

فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ ثُمَّ جِئْتَ عَلَىٰ

په مدین والو کښ بیا راغلے ته په

قَدَرٍ يَٰمُوسَىٰ ۝٤٠ وَٱصْطَنَعْتُكَ

وخت مقرر پاندے اے موسیٰ۔ او غوره کړے یے ما ته

طور پاندے مینه د بچي د فرعون ډیره وه او هغه سبب د تربیت او د حفاظت د هغه شو۔ او عَیْنِیْ د صفاتو د الله تعالیٰ نه دے چه معنیٰ د هغے معلومه ده سترگه او کیفیت د هغے معلوم نه دے۔ او تشبیه د مخلوق سره نه ده جائز او تاویل پکښ هم نه دے جائز۔

ن۸: وَقَتَلْتَ نَفْسًا، حالات د حوائج د هغه ذکر کوي۔ او مِنَ الْغَمِّ پکښ دلیل دے چه په قتل د قبطي کښ گناه نه وه صرف غم او ویره وه د فرعونیانو نه۔ فُتُونًا، او د دیته مراد قسما قسم تکلیفونه او مصیبتونه دي په موسیٰ علیه السلام پاندے د وخت د ولادت نه تر وخت د نبوت پورے او تفسیر ابن کثیر کښ حدیث الفتون ذکر کړے دے۔

لِنَفْسِيْ ﴿٤١﴾ اِذْهَبْ اَنْتَ وَاَخُوْكَ بِاٰيٰتِيْ

د پاره د ځان خپل - لاړ شه ته او ستا ورور په معجزاتو زما سره

وَلَا تَنِيَا فِيْ ذِكْرِيْ ﴿٤٢﴾ اِذْهَبَا اِلٰى

او نارستي مه کوئ په بیان د توحید زما کښې - لاړ شئ دواړه

فِرْعَوْنَ اِنَّهٗ طَغٰى ﴿٤٣﴾ فَقُوْلَا لَهٗ

فرعون ته یقینًا هغه سرکشي کړې ده - نو اووایئ هغه ته

سِنِیْنَ، مراد تربېه لس کلونه چه سورهٔ قصص کښې هغې ته الاجل وئیلي دي - او قَدَرٍ نه مراد څلوېښت کاله دي چه هغه تقدیر دے د الله تعالیٰ د پاره د نبوت د اکثرو انبیاؤ علیهم السلام - یا مراد د قَدَرٍ نه هغه نېټه ده چه موسیٰ علیه السلام د شعیب علیه السلام سره مقرر کړې وه -

٤١ :- مراد د دینه د نبوت او رسالت د پاره غوره کول دي - او دا دلیل دے چه نفس هم د الله تعالیٰ د صفاتو نه دے - اول صرف منتخب کول وو د دے وجې نه ئې اخترتك وئیلي وو - بیا په کارکښې لګول دي نو دلته ئې وَاصْطَنَعْتُكَ او ئیل ځکه چه اصطناع وئیلي شي د یو کار د پاره تیارول او په کارکښې لګول -

٤٢ :- روستو د اجابت د دُعاګانو نه بیا امر دے موسیٰ علیه السلام ته سرهٔ د ورور د هغه نه یعنی ورور ته ئې نبوت ورکړے شو لیکن هغه دغه وخت حاضر نه دے ځکه ئې غائب ذکر کړو او په آیت کښې تشجیع ده موسیٰ علیه السلام او ورور د هغه ته چه د مداهنت نه ځان بچ اوساتي - وَلَا تَنِيَا، دا ادب د دعوت دے.

٤٣ :- خلاصه: د دے آیت نه دریم مقام شروع کیږي تر ٤٨ پورې په دې کښې خطاب دے موسیٰ او هارون علیهما السلام ته او طریقه د دعوت دهٔ ته ٤٣ ٤٤ ٤٧ کښې او تسلي ده دواړو ته په ٤٥ او ٤٦ کښې او جواب د دوؤ سوالونو د فرعون دے د ٤٩ نه تر ٥٢ پورې بیا څلور عقلي دلیلونه دي د ٥٣ نه تر ٥٥ پورې -

فَقُولَا لَهُ قَوْلًا لَّيِّنًا لَّعَلَّهُ يَتَذَكَّرُ أَوْ يَخْشَىٰ ﴿۴۴﴾

وینا په نرمۍ سره کیدای شي چه نصیحت قبول کړي یا او یریږي۔

قَالَا رَبَّنَا إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفْرُطَ عَلَيْنَا

او وئیل دواړو اے ربه زمونږه یقیناً مونږ یریږو چه زیاتے به اوکړي په مونږ یا دا

أَوْ أَن يَطْغَىٰ ﴿۴۵﴾ قَالَ لَا تَخَافَا

یا سرکشي به اوکړي۔　　او وئیل الله تعالیٰ مه ویریږئ

تفسیر:۔ په دے ۴۳ آیت کښ دواړو ته خطاب ځکه اوشو چه موسیٰ علیه السلام مصر ته راغے او دواړه رونړه یوځاے شول۔ او هارون علیه السلام ته هم وحی شروع شوه۔

۴۴:۔ په دے آیت کښ بیان دَ طریقے دَ دعوت دے چه نرمه لهجه دِ وي او دعوت دِ وي په دلیلونو سره او وعظ او نصیحت سره۔

لَّيِّنًا، نه مراد دا دے چه لهجه او طریقه نرمه وي او خبره په دلیلونو سره ځکه وي دوی ته دَ مداهنت کونکو دَ پاره استدلال صحیح نه دے۔ او ابن کثیر اشعار دَ امیه بن الصلت دَ دے دَ پاره ذکر کړے دی چه قول لین کښ دلیلونه عقلیه پیش کول مراد دی۔

لَعَلَّهُ، په معنیٰ دَ امید دے یعنی تاسو چه دعوت کوئ نو امید ساتئ چه فرعون به ایمان راوړي په سبب دَ تَذَكَّرُ یا په سبب دَ خشیت سره امید ئے ذکر کړو ځکه چه انبیاء علیهم السلام په غیب نه پوهیږي نو یقیني فیصله نشي کولے۔ یا لَعَلَّ په معنیٰ دَ کَيْ دے یعنی دَ دے دَ پاره چه فرعون ایمان راوړي نو مقصد دَ دعوت نه ایمان دَ فرعون دے۔ بیا فرق په مینځ دَ تذکر او دَ خشیت کښ دا دے چه کله وعظ او نصیحت او دلیلونه په انسان باندے اثر اوکړي او ایمان راوړي نو دیته تذکر وائي او کله چه تخویف په انسان باندے اثر اوکړي او ایمان راوړي نو دا خشیت دے۔

۴۵:۔ په دے آیت کښ ذکر دَ خوف طبعي دے چه منافي نه دے دَ نبوت سره۔ او دا خوف په باره دَ مستقبل کښ دَ ګمان او امید

إِنَّنِي مَعَكُمَا أَسْمَعُ وَأَرَىٰ ﴿۴۶﴾ فَأْتِيَاهُ

یقینًا زهٔ ستاسو سره یم اورم او وینم - پس لاړشئ دواړه هغه ته

فَقُولَا إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرْسِلْ

نو اوایئ یقینًا مونږ رالیږلے شوی یو ستا درب د طرف نه تو پریږده

مَعَنَا بَنِي إِسْرَائِيلَ وَلَا تُعَذِّبْهُمْ

زمونږ سره بنی اسرائیل او تکلیفونه مه ورکوه دوی ته

قَدْ جِئْنَاكَ بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكَ وَالسَّلَامُ

یقینًا راوړے ده مونږ تاته نخښه ستا د رب د طرفه او دعذاب نه بچ کیدل دی

عَلَىٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَىٰ ﴿۴۷﴾ إِنَّا قَدْ أُوحِيَ

هغه چا لره چه تابعداری وی د هدایت - یقینًا وحی کړے شوے ده

په ځائے کښ استعمالیږی - او په معنیٰ د علم سره هم راځی - او فرق د فرط او طغیان په مینځ کښ دا دے چه بیان ته غوږ او نه نیسی او د اول سر نه انکار وکړی نو دا فرط دے او هر کله چه غوږ ونیسی او بیا مخالفت اوکړی نو دیته طغیان وائی۔

س۴۶:- دا تسلی ده د الله تعالیٰ د طرف نه په نصرت او امداد کولو سره۔ او معیت صفت د الله تعالیٰ دے او سلف صالحینو د هغے معنیٰ په نصرت او مدد سره کړیده او اَسْمَعُ وَأَرَىٰ کښ معنیٰ د معیت ته اشاره ده او دا دواړه فعلونه ئے مطلق ذکر کړے دی اشاره ده عموم ته یعنی ستاسو او ستاسو د دښمنانو خبرے آورم او د دواړو حالات وینم۔

س۴۷:- په دے آیت کښ بیان د طریقے د دعوت دے - او په یکښ پنځه خبرے دی - اوله خبره بیان د رسالت دے د پاره د اثبات د ربوبیت د الله تعالیٰ او دا دواړه اصلی مقاصد دی - دویمه ازادول د بنی اسرائیلو د ظلم د فرعونیانو نه ځکه چه دوی نسلاً مؤحدین وو - دریمه خبره منع کول د فرعونیانو د ظلم کولو نه په بنی اسرائیلو باندے - څلورمه خبره ورکول په معجزے سره د پاره د اثبات د توحید او د رسالت - او آیت

إِلَيْنَا أَنَّ الْعَذَابَ عَلَىٰ مَنْ كَذَّبَ

موږ ته چه عذاب په هغه چا باندے راځي چه دروغژن کړي (حق لره)

وَتَوَلَّىٰ ﴿٤٨﴾ قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَا مُوسَىٰ ﴿٤٩﴾

او مخ اوګرځوي. اوويل فرعون پس څوک دے ستاسو رب اے موسیٰ.

قَالَ رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَىٰ كُلَّ شَيْءٍ

اوويل هغه رب زموږ هغه ذات دے چه ورکړے يې دے هر څيز ته

خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ قَالَ فَمَا بَالُ

پيدائش د هغه بيا يې ورته لار خودلے ده. اوويل فرعون پس څه حال دے

اسم جنس دے يوه مراد نه ده. پنځمه خبره بشارت مؤمنانو ته په سلامتيا
سره د عذاب نه او په روستنئ جمله کښ مقصد سلام کول نه دي. هاں د
حديث د هرقل نه په جامع صحيح د بخاري کښ معلومه شوېده چه
کافرانو ته سلام په هم پدے طريقه کيدلے شي.

نمبر ٤٨:- پدے آيت کښ تخويف د عذاب دے متکرينو ته. روستو د بشارت نه
متبعينو ته او بشارت او تخويف دواړه طريقے د دعوت دي.
تَوَلّٰى، تولي کول مخه د تکذيب ده يا مراد د کذب نه د رسولانو نه انکار کول
او مراد د تولي نه د توحيد نه مخ اړول دي.

نمبر ٤٩:- پدے آيت کښ اول سوال د فرعون ذکر کړے شوېدے په باره د
ربوبيت کښ هرکله چه هغوي ورته اوويل رسولا ربك ځکه چه فرعون دعوٰی
د ربوبيت د مصر کړيوه چه زهٔ د دے مدبريم نو د دے وجے نه زهٔ
حقدار د بندګئ يم. لکه چه سوره نازعات نمبر ٢٤ کښ ذکر دے.

نمبر ٥٠:- حاصل د جواب دا دے چه رب هغه څوک کيدے شي چه پيدا کوونکے وي
او هدايت نه مراد عام دے يعني هر څيز ته فطري طور باندے د هغه د ژوند
د تيرولو طريقے خودل. او په لفظ د أَعْطٰى کښ اشاره ده چه خلق (وجود)
نعمت او عطيه ده د طرف د الله تعالٰى نه او پدے کښ چه د خلق د پاره کومو
مرادونو او اسبابو ته ضرورت دے هغه ټول الله تعالٰى ورکوي.

الْقُرُوْنِ الْاُوْلٰى ﴿۵۱﴾ قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ

دَ پیړو مخکنو۔ اُوئیل موسیٰ خبر دَ هغې زما دَ

رَبِّيْ فِيْ كِتٰبٍ ۚ لَا يَضِلُّ رَبِّيْ وَلَا

سره دے په کتاب کښ نه غافل کیږی رب زما او نه

يَنْسَى ﴿۵۲﴾ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ

ترینه هیریږی څۀ څیز۔ هغه ذات دے چه جوړه کړیده ستاسو دپاره زمکه

مَهْدًا وَّسَلَكَ لَكُمْ فِيْهَا سُبُلًا وَّاَنْزَلَ

دَ آرام ځائے او تیارے کړیدی تاسو لره په هغې کښ لارے دَ تللو، او را وریولے دی

ت۵۱ :- په دے آیت کښ دویم سوال دَ فرعون ذکر دے۔ مطلب دَ سوال دا دے که ستا خبره حقه وی نو تیرو شوو مشرانو خو دَ هغې خلاف کړے دے او بندګی دَ غیرالله ئې کړے ده نو دَ هغې په باره کښ ته څه وائې۔ او دا سوال دَ فرعون یوه دهوکه ورکول وو موسیٰ علیه السلام ته یعنی که چرے موسیٰ علیه السلام دَ دے په جواب کښ اُوائی چه هغه ټول ګمراهان وو نو عوام خلق به ترینه ټول ناراض شی۔

ت۵۲ :- په دے آیت کښ جواب دے دَ موسیٰ علیه السلام دَ طرف نه په حکمت سره چه علم دَ هغوئ ئې الله تعالیٰ ته اوسپارلو او په خپله ئې دَ هغوئ په باره کښ هیڅ فیصله اونکړه۔ او دا ادب دے دَپاره دَ دعوت کوونکو۔ لکه چه اوس هم مخالفین داسے تپوس نه کوی نو دَ هغې جواب په داسے طرز سره ورکول پکار دی. دَپاره دَ دے چه هغوی په ضد کښ اخته نشی۔ او په دے آیت کښ دوه صفتونه (چه هغه صفات سلبیه دی) دَ الله تعالیٰ نه نفی کړے شوی دی۔

لَا يَضِلُّ ، ضلال په معنیٰ دَ غفلت دے یا په معنیٰ دَ خطاء کیدلو دے۔

مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا

دَ طرف دَ آسمان نه اوبه نو را وویستلے دی مونږ په هغے سره جوړے

مِّنْ نَّبَاتٍ شَتّٰى ﴿٥٣﴾ كُلُوْا وَارْعَوْا اَنْعَامَكُمْ ۚ

دَ بوټو مختلفو نه - خورئ او څروئ څاروی خپل

اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّاُولِى النُّهٰى ﴿٥٤﴾

یقینًا په دیکښ شته ډیرے نخے دَ پاره دَ عقل والو -

مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ وَمِنْهَا

دَ دے زمکے نه مونږ پیدا کړی یئ تاسو او په دیکښ به دِ وړاندې بوځو تاسو او دَ دینه به

نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴿٥٥﴾ وَلَقَدْ اَرَيْنٰهُ

را اوباسو تاسو بل ځل - او یقینًا او خودل مونږ فرعون ته

۵۳ :- په دے آیت کښ دلیل عقلی دے په توحید باندے او دیته تنویر وئیلے شی په طریقه د ادخال الٰهی سره یعنی هرکله چه موسیٰ علیه السلام دَ الله تعالیٰ دوه صفتونه سلبیه ذکر کړل په طریقه دَ دلیل سره نو دَ نور وضاحت دَ پاره الله تعالیٰ دَ خپل طرف نه نور دلیلونه دَ توحید ذکر کوی په ذکر دَ صفات فعلیه ثبوتیه سره - او په دیکښ څلور کارونه دَ قدرت دَ الله تعالیٰ ذکر کړے شوی دی - اَزْوَاجًا جوړے په نر او ماده چه اونو او بوټو کښ هم شته یا ازواج په معنیٰ دَ قسمونو دے.
۵۴ :- په دے آیت کښ بل دلیل عقلی دے په ذکر دَ بعضے نعمتونو سره په انسانانو او په څناورو باندے - او دا ئے په صیغه دَ امر سره ذکر کړل ځکه چه خوراک او دَ څاروُ حق اداکول دَ واجباتو نه دی او په دیکښ مراد قائده اختلال دی دَ هغه څیزونو نه چه په مخکښ آیت کښ ذکر شوی دی.
النُّهٰى، جمع دَ نهیة یا نهوة ده هغه څیز چه په هغے سره دَ بد کارونو نه منع کیدل کیږی نو هغه عقل او عدل دے په دے شرط چه دَ منع کولو دَ پاره سره استعمال کړے شی -
۵۵ :- په دیکښ بل دلیل عقلی دے او دَ انسانانو درے حالاتو نه ئے ذکر

اٰيٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَاَبٰى ﴿۵۶﴾ قَالَ اَجِئْتَنَا

ټولې زمونږ نو ده دروغژنې کړې او انکار يې اوکړو - اوئيل آيا ته راغلې يې مونږ ته

لِتُخْرِجَنَا مِنْ اَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يٰمُوْسٰى ﴿۵۷﴾

چه اوباسې مونږ د وطن زمونږ نه په جادو خپل سره اے موسیٰ -

فَلَنَاْتِيَنَّكَ بِسِحْرٍ مِّثْلِهٖ فَاجْعَلْ بَيْنَنَا

پس راېه ولو تا ته جادو د دے پشان پس مقرر کړه په مينځ زمونږ

وَبَيْنَكَ مَوْعِدًا لَّا نُخْلِفُهٗ نَحْنُ وَلَآ اَنْتَ

او ستا کښې مقرر وخت چه خلاف به نه کوو مونږ او نه ته

مَكَانًا سُوًى ﴿۵۸﴾ قَالَ مَوْعِدُكُمْ يَوْمُ الزِّيْنَةِ

ځائے برابر - اوئيل موسیٰ علیه السلام مقرر وخت ستاسو ورځ د خوشحالۍ ستاسو ده

کړيږي - او په هغې درے وارو حالاتو کښ دوی الله تعالیٰ ته محتاج دی، اول ژوند ورکول بيا مرګ بيا دوباره ژوند (بعث بعد الموت) -

۵۶ - خلاصه :- د دے آيت نه خلورم مقام شروع کيږي تر آيت ۷۶ پورے په يکښ ذکر کيږي مقابله د موسیٰ علیه السلام د ساحرانو سره او غلبه مونږ په هغې باندے، بيا ئے ذکر کړيدے ايمان راوړل د ساحرانو په شجاعت د هغوی بيا تخويف دے په ۷۴ کښ بيا بشارت دے مومنانو ته په ۷۵ ۷۶ آيت کښ -

په دے ۵۶ آيت کښ ذکر د ټولو معجزاتو د موسیٰ علیه السلام دے په اجمالی طريقه سره او هغه نهه دی لکه چه سورة بنی اسرائيل کښ په آيت ۱۰۱ کښ تير شويدی - او تفصيل د هغې په سورة اعراف کښ ذکر کړے شويدے.

فَكَذَّبَ، دا ذکر د اسبابو د عذاب دے تکذيب نه مراد دا دے چه دا آيتونه ئے د طرف د الله تعالیٰ نه نه منل او ابٰى دا ده چه د توحيد او رسالت منلو نه ئے انکار اوکړو -

۵۷ :- دا اعتراض د فرعون بناء دے په وهم د هغه باندے يا دهوکه ورکوی قوم ته چه دا موسیٰ علیه السلام زمونږ نه وطن قبضه کوی - او آيا نو ته ئے سحر اوئيل -

۵۸ :- په دے آيت کښ وعده کول دی د فرعون د موسیٰ علیه السلام سره

وَاَنْ يُّحْشَرَ النَّاسُ ضُحًى ﴿٥٩﴾ فَتَوَلّٰى

او چه راجمع کړے شي خلق په وخت د ساخت کښ. پس مخ اوګرځوو

فِرْعَوْنُ فَجَمَعَ كَيْدَهٗ ثُمَّ اَتٰى ﴿٦٠﴾ قَالَ

فرعون نو راجمع ئے کړل خپل چل والا بیا راغے - او ئیل

په مقابله کولو په جادو سره او اختیار ئے ورکړو موسیٰ علیه السلام ته چه تاریخ او ځائے د مقابلے کولو ته پخپله مقرر کړه.

مَوْعِدًا وخت او مکان دواړو ته شامل دے نو مَكَانًا سُوًى، د دینه بدل بعض دے او مراد د سُوًى نه دا دے چه د دواړو فریقو په مینځ کښ وی او راتلل ورته د دواړو آسان وی یا سوی په معنیٰ د جدا میدان دے.

ف ٥٩:- پدے آیت کښ مقرر کړو موسیٰ علیه السلام وخت او تاریخ د مقابلے تاریخ ته ئے يَوْمُ الزِّيْنَةِ او ئیل یعنی هغه ورځ چه په هغے کښ جشن کیدهٔ د فرعون د پیدائش یا د هغه د تاج پوشئ او پدے لفظ سره د مکان تعین هم اوکړے شو ځکه چه زینت په دارالخلافه کښ کیږی - دا ورځ د دے وجے نه مقرره شوه چه د خلقو به هم چهټی وی نو ګنړ خلق به بیار ته راجمع کیږی تماشه به اوکړی - او وخت د ساخت ئے ځکه مقرر کړو چه خلق د لرے لرے ځایو نه را اورسی او بیا هم د شپے د پاره واپس خپلو کورو ته اورسی خلقو ته به آسانه وی او په فرعون باندے به د خلقو د خوراک تکلیف نه راځی.

ف ٦٠:- یوه معنیٰ دا ده چه فرعون د حق نه مخ واړوو او په ضد باندے اودریدلو.

دویمه معنیٰ دا ده چه روان شو خپل ځائے ته د پاره د تیارے کولو د مقابلے او د كَيْدَهٗ نه مراد ساحران دی یعنی اهل کید یا مراد دا چه پوخ ئے کړو تد بیر خپل -

اَتٰى راغے میدان د مقابلے کولو ته -

لَهُمْ مُوسٰى وَيْلَكُمْ لَا تَفْتَرُوا عَلَى اللّٰهِ

دوی ته موسٰی علیه السلام تباه به شئ مهٔ جوړوئ په الله تعالٰی باندے

كَذِبًا فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ وَقَدْ خَابَ

دروغ نو بیخ به اوباسی ستاسو په عذاب سره او یقینًا نا امیده شو

مَنِ افْتَرٰى ﴿٦١﴾ فَتَنَازَعُوٓا اَمْرَهُمْ

هغه څوک چه دروغ ئے جوړ کړل - نو اختلاف اوکړو دوی په باره د هغوی کښ

بَيْنَهُمْ وَاَسَرُّوا النَّجْوٰى ﴿٦٢﴾ قَالُوٓا اِنْ

په مینځ خپل کښ او پټه جرګه ئے اوکړله - اوئیل دوی یقینًا

هٰذٰنِ لَسٰحِرٰنِ يُرِيْدٰنِ اَنْ يُّخْرِجٰكُمْ

دا دواړه خامخا جادوګران دی، غواړی دوی چه اوباسی تاسو لره

مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهِمَا وَيَذْهَبَا

د وطن ستاسو نه په سبب د جادو خپل او ورانه کړی (لرے کړی)

ف٦١ :- موسٰی علیه السلام ساحرانو ته نصیحت اوکړو چه شرک مهٔ کوئ
او یره ئے ورکړه هغوی ته په عذاب سره - معلومه شوه چه عام خلق
د مصر مشرکان وو دهریان نه وو - فَيُسْحِتَكُمْ ، سُحت بیخ کندئ ته
وئیلی شی او مراد د دیته عذاب دنیوی دے - وَقَدْ خَابَ کښ مراد
عذاب اخروی دے یا بِعَذَابٍ نه مراد عام دے دنیوی او اخروی
او قَدْ خَابَ نه مراد ناکامی ده په مقابله کښ -
ف٦٢ :- یعنی د موسٰی علیه السلام پدے نصیحت کولو سره په ساحرانو کښ
اختلاف پیدا شو چا وئیل چه دا خبرے د دهٔ د نبوت دی او بعضو وئیل
چه دا په مونږ باندے دباؤ کوی او پټه جرګه ئے اوکړه که دے نبی وی
تو غالب به شی نو مونږ به پدهٔ باندے ایمان راوړو -

بِطَرِيْقَتِكُمُ الْمُثْلٰى ﴿۶۳﴾ فَاَجْمِعُوْا كَيْدَكُمْ

لار ستاسو چه غوره ده ۔ نو كلك كړئ چل ول خپل

ثُمَّ ائْتُوْا صَفًّا ۚ وَقَدْ اَفْلَحَ الْيَوْمَ

بيا راشئ صفونه او يقيناً كامياب دے نن

مَنِ اسْتَعْلٰى ﴿۶۴﴾ قَالُوْا يٰمُوْسٰى اِمَّآ اَنْ تُلْقِيَ

هغه څوک چه بر شي او منلو ۔ اوئيل دوى اے موسىٰ يا ته اوغورځوه

سٓ۶۳۔ دا قول دَ فرعونيانو دے او هغوى درے خبرے اوكړے يو ئے حكم اوكړو چه دوى دواړه جادوگر دى ۔ دويم حكومت والائے او ويرول چه دوى ستاسو نه بادشاهى اخلى ۔ دريم عوام خلق ئے او ويرول چه دوى ستاسو حق دين خرابوى ۔

اِنْ هٰذٰنِ ، ابن كثير وئيلى دى چه دا هم دَ بعض عربو لغت دى چه دَ اِنَّ په ځائے اِنْ او اسم دَ هغے مرفوع وائى او بعضو وئيلى دى چه دا مخفف دے دَ مُثَقَّل نه او ضمير شان (اسم) ئے حذف دے او هٰذٰن مبتدا ء ده او بعضو وئيلى دى چه ان نافيه دے او لام په معنىٰ دَ اِلّا سره دے ۔

سٓ۶۴ ۔ صَفًّا ، دَ دے يوه معنىٰ دا ده چه صفونه جوړ كړئ دَپاره دَ دے چه په موسىٰ عليه السلام باندے رُعب راشى ۔ دويمه معنىٰ دا ده چه راشئ عيدگاه ته يعنى ځائے دَ جشن كولو ته ۔

وَقَدْ اَفْلَحَ ، دَ دنيا پرستو خيال دے چه دَ دنيا كاميابى فلاح گنړى ۔

اِسْتَعْلٰى ئے دَ دے وجے نه اوئيل چه علو خو دوى اصل دَ فرعون دَپاره گنړله او په مقابله سره چه علو حاصليږى نو هغه عارضى وى نو هغے ته ئے استعلاء اوئيل ۔

وَاِمَّآ اَنْ نَّكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ اَلْقٰى ﴿٦٥﴾ قَالَ

او يا په	مونږ شو	اول	دَ غورځوونکو نه - اوئيل هغه

بَلْ اَلْقُوْا ۚ فَاِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ

بلكه اوغورځوئ تاسو	نو ناڅاپه وخت رسئ دَ هغوي	او همسا ګانے دَ هغوي

يُخَيَّلُ اِلَيْهِ مِنْ سِحْرِهِمْ اَنَّهَا تَسْعٰى ﴿٦٦﴾

په خيال کښ راتلے موسیٰ ته	دَ وجے دَ جادو دَ هغوي نه چه يقيناً دا منډے وهي

فَاَوْجَسَ فِيْ نَفْسِهٖ خِيْفَةً مُّوْسٰى ﴿٦٧﴾

پس تيره كړه	په زړه كښ	ويره	موسیٰ عليه السلام -

٦٥ :- په دے آيت كښ اشاره ده چه ساحرانو دَ موسیٰ عليه السلام ادب كړيدے او دَ دے په وجه هغوي له ايمان نصيب شو - او په حديث دَ بخاري كښ اَسْلَمْتَ عَلٰى مَا سَلَفَ لَكَ مِنَ الْخَيْرِ كښ هم ديته اشاره ده او دا سے په سورة اعراف ١١٥ كښ تير شوے دي هر كله چه مقصد اصلي اول القاء كوونكے دے دَ دے وجے نه دلته لفظ دَ اول ئے سيئے ذكر كړو -

٦٦ :- په دے آيت كښ اشاره ده چه سحر دَ هغوي نظربندي كول وو. او دا دليل دے په دے خبره باندے چه دَ سحر اثر په پيغمبرانو باندے هم كيږي ليكن دَ هغوي عقل او دين ته نقصان نشي رسولے. صرف قوت خيال باندے اثر پريوځي او دا يو مرض دے چه دَ نبوت سره منافات نه لري دَ دے تفصيل په تفسير دَ سورة فلق كښ راځي -

٦٧ :- يره كول دَ موسیٰ عليه السلام دَ ماراتو نه طبعي يره وه او دَ دے دَ نبوت سره منافات نيشته يا موسیٰ عليه السلام دَ دے نه اويريدو چه عام خلقو باندے دَ سحر دَ وجے نه حق ګډ وډ نشي. دَ دے وجے نه چه معجزه خو دَ ده په اختيار كښ نه وه نو كيدے شي چه په دے وخت كښ دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه امر او نشي ځكه يره وربانديے راغله -

قُلْنَا لَا تَخَفْ اِنَّكَ اَنْتَ الْاَعْلٰى ﴿٦٨﴾ وَاَلْقِ

اوویل موږ مه وېرېږه یقیناً ته بره یې - او اوغورځوه

مَا فِيْ يَمِيْنِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوْا ؕ اِنَّمَا

هغه چه ستا په ښي لاس کښ دی تېر به کړی (په یو ځل) هغه چه دوی جوړ کړي دي. یقیناً هغه چه

صَنَعُوْا كَيْدُ سٰحِرٍ ؕ وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ

دوی جوړ کړي دي چل ول د جادوګر دے، او نه کامیابیږي جادوګر

حَيْثُ اَتٰى ﴿٦٩﴾ فَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ سُجَّدًا

هر ځائے چه راشي - پس اوغورځولے شو جادوګران سجده کوونکي

٦٨:- په دے آیت کښ تسلی ده موسٰی علیه السّلام ته په اوچت والی دَ مرتبے سره په دُنیا او آخرت کښ او دلیل دے په دے خبره چه دَ اعلٰی اطلاق په مخلوق باندے هم کیدے شي. لیکن دا دَ مخلوق دپاره مطلق نه دے اعلٰی دَ هر څیز نه مراد نه دے او دَ الله تعالٰی دپاره دا صفت مطلق او کامل دے.

٦٩:- په دے آیت کښ تسلی دی موسٰی علیه السلام ته په ذکر دَ سبب دَ غلبے دَ هغه په دوه طریقو سره - اوله طریقه په تَلْقَفْ سره ده. او دویمه طریقه په وَلَا يُفْلِحُ السّٰحِرُ سره ده - او په لفظ دَ مَا فِيْ يَمِيْنِكَ کښ اشاره ده چه ستا معجزه بے تکلیفه کار دے او اشاره ده چه ستا همساء سره دَ وېړوکوالی نه غټے رسۍ او همساګانے به تیرے کړي. دَ تَلْقَفْ دوه معنے دی اوله معنٰی مشهوره ده چه هغے مار دَ موسٰی علیه السلام هغه ټولے رسۍ او همساګانے دَ یو نوړۍ پشان تیرے کړے او دویمه معنٰی سقرانی وئیلی دی چه دا کنایه ده دَ هغے دَ اثر ختمولو نه یعنی دَ همساګانو او رسو نه شکل دَ ماړانو ختم شو لیکن اوله معنٰی صحیح ده اِنَّمَا دا مرکب دے دَ اِنَّ او مَا موصوله نه حَيْثُ اَتٰى یعنی هر مقام کښ نشي کامیاب کیدلے او خصوصاً دَ معجزے په مقابله کښ هیڅ کله نشي کامیاب کیدلے.

قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ هٰرُوْنَ وَمُوْسٰى ﴿٧٠﴾

اوئیل دوی ایمان راوړے دے موږ په رب د هارون او موسیٰ علیهما السلام.

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ط

اوئیل فرعون آیا ایمان راوړلو تاسو په دهٔ باندے مخکښ د دینه چه اجازت کړے وے ما تاسو ته

اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ج

یقینًا دا ستاسو مشر دے هغه چه خودلے دے تاسو ته جادو

فَلَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ

نو ضرور پرے به کړم لاس ستاسو او خپے ستاسو

خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ ز

ادل بدل او ضرور پهانسي به کړم تاسو په تنو د کجورو کښ

وَلَتَعْلَمُنَّ اَيُّنَآ اَشَدُّ عَذَابًا وَّاَبْقٰى ﴿٧١﴾

او خامخا پوهه به شئ چه کوم یو زموږ نه ډیر سخت عذاب والا دے او همیشه عذاب والا دے

سك:- لفظ د اُلْقِيَ دلالت کوی پدے باندے چه معجزه د موسیٰ علیه السلام ښکاره دلیل وو په توحید د الله تعالیٰ چه په وجه د هغے سره دوی مجبوره شو سجدے کولو ته او ایمان راوړلو ته. د دے وجے نه صیغه د مجهول ئے راوړله آمَنَّا اشاره ده چه دا سجده د دوی د ایمان د وجے نه ده سجده طبعی یا عادتی نه وه.

فائده:- په نورو سورتونو کښ موسیٰ علیه السلام مخکښ او هارون علیه السلام روستو ذکر شوی دی او دلته ئے هارون علیه السلام مخکښ راوړو یو خو د آیاتونو د فواصلو د وجے نه. دویم پدے سورت کښ د هارون علیه السلام شان ذکر کول مقصد دے لکه چه د هغه د نبوت سوال اوکړے شو بیا دوی ته ئے رَسُوْلَا په تثنیه سره اوئیل او روستو د هارون علیه السلام صفائی ذکر کوی. لقد قال لهم هارون سره.

سك:- پدے آیت کښ ذکر کړے ده اول زورنه د فرعون ساحرانو ته

قَالُوْا لَنْ نُّؤْثِرَكَ عَلٰى مَا جَآءَنَا

دوی اوئیل هیچرے نه غوره کوو مونږ تا په مقابله دَ هغه چه راغلی دَ مونږ

مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالَّذِىْ فَطَرَنَا فَاقْضِ

ښکاره معجزاتو نه او هغه چه مونږ یے پیدا کړے یو نو فیصله اوکړه

مَآ اَنْتَ قَاضٍ ؕ اِنَّمَا تَقْضِىْ هٰذِهِ الْحَيٰوةَ

هغه چه ته څه فیصله کوونکے یے، یقیناً ستا فیصله چلیږی صرف په دے ژوندن

الدُّنْيَا ﴿۷۲﴾ؕ اِنَّآ اٰمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا

دنیوی کښ. یقیناً مونږ ایمان راوړے په رب خپل یاندے دے دپاره چه بخنا اوکړی مونږ له

خَطٰيٰنَا وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ ؕ

دَ گناهونو زمونږ او هغه چه زور کړے دے تا په مونږ باندے په باره دَ هغے کښ دَ جادوگولو نه

په ایمان راوړلو بے اجازته او بیا یَے ذکر کړے دے دروغږن دلیل دَ هغه چه موسیٰ علیه السلام ستا سو استاذ دے. حال دا دے چه دَ موسیٰ علیه السلام دَ مصر دَ راتلو نه مخکښ دا ساحران موجود وو. سحرونه یَے کول او موسیٰ علیه السلام خو دَ مصر نه غائب وو.

اَيُّنَا اَشَدُّ مراد دَ دیته ځان دَ فرعون او رب دَ موسیٰ علیه السلام دے. او بیا یَے ذکر کړے دے په دریو جملو کښ دا دَ کول په ساحرانو په عذاب ورکولو سره.

سک:- په دے آیت کښ یَے ذکر کړے دے شجاعت دَ ساحرانو پس دَ ایمان راوړلو نه. دَ وَالَّذِىْ فَطَرَنَا دوه معنے دی.

اوله معنیٰ دا ده چه نه غوره کوو مونږ تا لره په مقابله دَ هغه ذات کښ چه مونږ یَے پیدا کړی یو.

دویمه معنیٰ دا ده چه قسم دے په هغه ذات چه مونږ یَے پیدا کړی یو. او دَ آخری جملے مطلب دا دے چه ستا زور صرف په دنیا کښ چلیدے شی او په آخرت کښ نهٔ چلیږی.

وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿٧٣﴾ اِنَّهٗ مَنْ يَّاْتِ

او الله تعالىٰ غوره دے او هميشه دے. يقينًا څوک چه راشي

رَبَّهٗ مُجْرِمًا فَاِنَّ لَهٗ جَهَنَّمَ ۭ لَا يَمُوْتُ

رب خپل ته مجرم نو يقينًا ده لره جهنم دے نه به مري

فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ﴿٧٤﴾ وَمَنْ يَّاْتِهٖ مُؤْمِنًا

په هغے کښ او نه به ژوندے وي (په فائده مند ژوند سره) او څوک چه راشي هغه ته مؤمن

قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ فَاُولٰٓئِكَ لَهُمُ

حال دا چه نيک عملونه ئے کړے وي نو دغه خلق دوي لره

س٧٣ :- په دے آيت کښ دليل دے چه په ايمان راوړلو سره ټول تير شوي ګناهونه معاف کيږي.

وَمَآ اَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ ته مراد دا دے چه هر کله ساحرانو د مقابلے کولو نه مخکښ چه د موسىٰ عليه السلام پيغمبري او پيژندله نو دوي انکار اوکړو د مقابلے نه نو فرعون په دوي باندے اکراه اوکړه په سحر کولو سره يا مراد د ديته دا دے چه فرعون پخپل ملک کښ تعليم د سحر په زور جاري کړے وو.

وَاللّٰهُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ، يوه معنىٰ دا وه چه د الله تعالىٰ اطاعت غوره دے او ثواب د هغے هميشه دے. دويمه معنىٰ دا ده چه الله تعالىٰ غوره دے کله چه د هغه اطاعت اوکړے شي او عذاب د هغه باقي او هميشه دے کله چه د هغے عصيان اوکړے شي.

س٧٤ :- په دے آيت کښ تخويف اخروي دے منکرينو ته او لفظ د مُجْرِمًا کښ اشاره ده چه په ميدان د قيامت کښ به ګناهګارو باندے د هغوي ګناهونه به ښکاريږي. وَلَا يَحْيٰى ، مراد دا دے چه په ژوند سره به فائده نشي حاصلولے. او دا سے په سورة اعلىٰ س١٣ کښ دي. او لَا يَمُوْتُ دليل دے چه اهل جهنم به هميشه د ي.

الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى ﴿۷۵﴾ جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ

درجې اوچتې دي. جنتونه د هميشوالي بهيږي په

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ وَذٰلِكَ

لاندې د هغې نه ويالې هميشه به وي دوي په هغې کښې او دا

جَزٰۗؤُا مَنْ تَزَكّٰى ﴿۷۶﴾ وَلَقَدْ اَوْحَيْنَآ

بدله ده د هغه چا چه ځان يې پاک ساتلې د (د شرک نه). او يقيناً وحي اوکړه مونږ

اِلٰى مُوْسٰٓى اَنْ اَسْرِ بِعِبَادِيْ فَاضْرِبْ

موسیٰ ته چه د شپې بوځه بندګان زما پس اووهه (درياب)

لَهُمْ طَرِيْقًا فِي الْبَحْرِ يَبَسًا ۙ لَّا تَخٰفُ

(جوړه کړه) دوي لره لاره په درياب کښې اوچه نه به يريږې

دَرَكًا وَّلَا تَخْشٰى ﴿۷۷﴾ فَاَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ

د لاندې کولو نه او نه به ويريږې د غرقيدلو نه. پس لاړو په دوي پسې فرعون

۷۵ ۷۶: په دې آيتونو کښې بشارت اخروي دې. قَدْ عَمِلَ الصّٰلِحٰتِ کښې اشاره ده استقامت او شجاعت ته پشان د هغه د ساحرانو الدَّرَجٰتُ الْعُلٰى په حديث سره ثابت دي چه په جنت کښې سل درجې دي او هر دوارو درجو په مينځ کښې د آسمان او زمکې پشان فاصله ده.

تَزَكّٰى. ابن کثير وئيلي دي چه ځان پاک کړي د خيري او پليتئ د شرک نه او بندګي د الله تعالىٰ کوي او د رسولانو اتباع کوئ. خو په دې جمله کښې اشاره ده چه جنت د پاکو ځائے دے او پاکوالے حاصليږي په ايمان او نيک عمل سره.

۷۷: (خلاصه) د دې آيت نه پنځم مقام شروع کيږي تر آيت ۸۲ پورې په دې کښې ذکر د نجات مونږلو د بني اسرائيلو دے او غرق کيدل د فرعون دي سره د قوم نه بيا ياداشت ورکول دي بني اسرائيلو ته په نعمتونو سره او تخويف او بشارت دے.

بِجُنُوْدِهٖ فَغَشِيَهُمْ مِّنَ الْيَمِّ مَا

دَ لښکرو سره تو راګیر کړو دوی لره دَ دریاب نه هغه څه

غَشِيَهُمْ ﴿۷۸﴾ وَاَضَلَّ فِرْعَوْنُ قَوْمَهٗ

چه دوی ئے پټ کړل۔ او بے لارے کړو فرعون قوم خپل لره

وَمَا هَدٰى ﴿۷۹﴾ يٰبَنِىٓ اِسْرَآءِيْلَ قَدْ اَنْجَيْنٰكُمْ

او هیڅ لار ئے اونه خودله دوی ته۔ اے بنی اسرائیلو یقیناً بچ کړی مونږ تاسو

مِّنْ عَدُوِّكُمْ وَوٰعَدْنٰكُمْ جَانِبَ الطُّوْرِ

دَ دشمن ستاسو نه او وعده کړے وه مونږ تاسو سره دَ طرف دَ طور

الْاَيْمَنَ وَنَزَّلْنَا عَلَيْكُمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوٰى ﴿۸۰﴾

حَیٔ طرف او رالیږلی دی مونږ په تاسو باندے من او سلوٰی

فائدۂ پدے آیت کښ هجرت دَ بنی اسرائیلو ذکر کوی او حکم دَ هجرت کولو دَ شپے په وخت کښ دَ دے وجے نه دے چه مفسدان خلق دَ شپے په غفلت کښ وی او دا هجرت دَ دوی په وحی دَ الله تعالیٰ سره وو۔ او په هغے کښ اختصار کړیدے تفصیل دَ هغے په سورۃ شعراء کښ دی۔ طَرِيْقًا اسم جنس دے په معنیٰ دَ جمع سره دے یعنی دولس لارے۔ دَ رَكًا لاندے کول دَ فرعونیانو تاسو لره او دَ اوبو نه وَلَا تَخْشٰى، دَ غرقیدلو نه په دریاب کښ۔

سـ۷۸ ۔ پدے آیت کښ ذکر دَ غرقیدلو دے دَ فرعون، سرۂ دَ لښکر نه په طریقه دَ اختصار سره۔ مَا غَشِيَهُمْ دا ابهام دَ پاره دَ ډیر عظمت او هیبت دے لکه په سورۃ نجم سـ۵۴ کښ۔

سـ۷۹ ۔ پدیکښ رد دے په دعویٰ دَ فرعون باندے چه هغه ذکر شویده په سورۃ مومن آیت سـ۲۹ کښ۔

سـ۸۰ ۔ پدے آیت کښ ذکر دَ نعمتونو دے په بنی اسرائیلو باندے۔ په سر کښ دا لفظ (چه اوئیل مونږ دَ غرق دَ فرعون نه وروستو) پټ دَے۔ اول نعمت نجات دَ دشمن نه۔ او دویم نعمت وعده دَ کتاب الله ورکول وو۔

كُلُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا رَزَقْنٰكُمْ وَلَا تَطْغَوْا

(او ئیل مونږ) خورئ د حلال پاک هغې نه چه مونږ درکړي دي تاسو ته او سرکشي مه کوئ

فِيْهِ فَيَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبِيْ ۚ وَمَنْ يَّحْلِلْ

په دېکښې نو نازل به شي په تاسو باندې غضب زما او هغه څوک چه نازل شو

عَلَيْهِ غَضَبِيْ فَقَدْ هَوٰى ﴿۸۱﴾ وَاِنِّيْ لَغَفَّارٌ

په هغه باندې غضب زما نو يقينًا هلاک شو. او يقينًا زه خامخا بخښنه کوونکے يم

لِّمَنْ تَابَ وَاٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ

هغه چا ته چه توبه ئې کړې ده او ايمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړے په تابعدارئ د سنت بيا

اهْتَدٰى ﴿۸۲﴾ وَمَآ اَعْجَلَكَ عَنْ قَوْمِكَ

کلک وي په دين باندې - (او ئیل الله تعالیٰ) او څه څيز زر راوستلے ته د قوم خپل نه

او دريم نعمت دَ مَنّ سَلْوٰی وو - اول نعمت دَ امن دے دويم روحاني نعمت دريم جسماني نعمت دے.

سلا ۸۱ :- دَ كُلُوْا نه مخکښې (رَزَقْنَا) پټ مراد دے او طغيان په خوراک کښې څلورو طريقو سره دے - اوله طريقه ناشکري کول - دويمه طريقه په بدل دَ اعلیٰ کښې ادنیٰ غوښتل - دريمه طريقه دَ هغې ذخيره کول په خلاف کولو دَ حکم دَ الله تعالیٰ سره - او څلورمه طريقه په هغې کښې دَ ځان نه حرام حلال جوړول او دا ټولے طريقے اسباب دَ غضب الٰهي دي او دَ آيت په آخر کښې تخويف اُخروي ذکر دے - فَقَدْ هَوٰى لفظ کښې اشاره ده چه ډير والی دَ نعمتونو دَ دنيا سره دَ ناشکرئ نه سبب دَ تنزل دے اګرچه دنيا پرست خلق دېته ترقي وائي او دا تنزل په آخرت کښې پوره ښکاره کيږي.

سلا ۸۲ :- په دے آيت کښې بشارت دے په مغفرت دَ ګناهونو سره - اِهْتَدٰى، هدايت په پنځو طريقو سره حاصليږي، اوله طريقه استقامت په ايمان باندې تر مرګه پورے او دويمه طريقه دَ شکونو نه بچ کيدل - او دريمه طريقه په سنت دَ نبي مضبوط کيدل. ابن کثير وئيلي دي چه مستقيم شي په سنت او جماعت باندې او دا درجه (استقامت) دَ ايمان او عمل صالح نه روستو ده ځکه ئې دا روستو ذکر کړې ده.

يٰمُوْسٰى ﴿۸۳﴾ قَالَ هُمْ أُولَآءِ عَلٰى أَثَرِىْ

اے موسٰی۔ اوویل هغه هغوی دغه دی زما په نقش قدم راروان دی

وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضٰى ﴿۸۴﴾ قَالَ فَإِنَّا

او زر راغلم زهٔ تا ته اے ربه زما دے دپارهٔ چه ته رضا شے۔ اوویل الله تعالٰی پس یقینًا

قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ

از میښت اوکړو موږ په قوم ستا پاتلے روستو ستا نه او گمراهی ته را اوبلل دی ئې

س۸۳:۔ خلاصه:۔ دَ دے آیت نه شپږم مقام شروع دے تر س۹۸ آیت پورے
په دیکښ ذکر دَ غضب دَ موسٰی علیه السلام دے خپل قوم ته، او بیا ورور ته،
او بیا سامری ته او جواب کول دَ هر یو بخپلے طریقے سره او په آخر کښ
سوځول دَ سخی دی چه ماده دَ شرک وه، او دعوت دے توحید ته۔
فائده په س۸۳ آیت کښ ذکر کوی اول میقات دَ موسٰی علیه السلام دَ پاره دَ
اخستلو دَ کتاب چه تفصیل دَ هغے په سورة اعراف س۱۴۲ کښ تیر شوے دے
او په دے آیت کښ دَ موسٰی علیه السلام نه دوه تپوسونه ذکر دی په یو
لفظ سره چه ما اعجلك دے اول دا چه قوم دے په کوم حالت کښ
پریخودلے دے۔ او دویم دا چه دَ میقات دَ مقرر وخت نه وړاندے ولے راغلے۔
س۸۴:۔ په دے آیت کښ دَ دواړو سوالونه جوابونه دی۔ اول جواب دا چه
قوم زما تابعدار دے، یعنی په هغوی کښ شرک نیشته۔ لفظ دَ أَثَرِىْ
په دے معنٰی باندے دلالت کوی۔ دویم جواب دا دے چه دَ وخت نه
مخکښ راتلل دَ دے دَ پاره چه ته زما نه ډیر رضا شے دا ما په خپل اجتهاد
سره کړی دی۔ لکه چه یو مؤمن مسجد ته دَ وخت دَ داخلیدلو نه مخکښ دَ
مونځ دَ پاره لاړ شی بعضے مفسرینو دَ أَثَرِىْ معنے سره لیکلے دی چه قوم
ما پسے طور ته راروان دے لیکن زهٔ تر بته مخکښ راغلم او دا ئې دَ
دویم میقات سره لګولے دے دا قول دَ سورة اعراف دَ ترتیب نه خلاف
دے ځکه چه په اول میقات کښ دَ موسٰی علیه السلام سره تور خلق نشته
هغوی را اوبا کسان) خو په دویم میقات کښ وو او واقعه دَ ورکولو دَ کتاب
او دَ عبادت دَ عجل دَ دویم میقات نه وړاندے شوے وه۔

السَّامِرِيُّ ﴿۸۵﴾ فَرَجَعَ مُوسٰى اِلٰى قَوْمِهٖ

سامری۔ نو واپس لاړو موسیٰ قوم خپل ته

غَضْبَانَ اَسِفًا ۚ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَمْ يَعِدْكُمْ

غصه غمژن او وئیل هغه اے قومه زما آیا وعده نه ده کړے تاسو سره

رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا ۗ اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ

رب ستاسو وعده خائسته آیا نو اوګډه شوه په تاسو باندے وعده

اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ

یا اراده اوکړه تاسو چه نازل شی په تاسو باندے غضب

مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ ﴿۸۶﴾

د طرف د رب ستاسو نه نو خلاف اوکړو تاسو د وعدے زما نه۔

۸۵:۔ په دے آیت کښ خبر ورکول دی موسیٰ علیه السلام ته چه ستا قوم په شرک کښ اخته شوے دے۔ او سبب د هغے سامری ګرځیدلے دے۔ او فَتَنَّا کښ اشاره ده چه شیطان انسی یا جنی په یو قوم باندے مسلط کول امتحان د الله تعالیٰ دے او اَضَلَّهُمُ په معنیٰ د دعوت کولو د ګمراهئ دے ځکه اضلال په اصل کښ فعل د الله تعالیٰ دے۔ په آیت کښ دلیل دے په دے خبره چه موسیٰ علیه السلام په غیب باندے خبر نه وو۔ او په یکښ اختصار دے چه څلویښت ورځے په میقات کښ تیرے شوے او کتاب ئے ورله په تختو کښ ورکړه بیا ئے ورله خبر ورکړو۔ فَاِنَّا قَدْ فَتَنَّا آه۔

فائده:۔ سامری د سامره قبیلے نه وو۔ اسرائیلی وو یا قبطی وو۔ دا دوه قولونه دی اول قول ډیر مشهور دے۔ سامری په دین د موسیٰ علیه السلام کښ داخل شوے وو په طریقه د منافقت سره او بیا مرتد شو نو بنی اسرائیل ئے شرک ته راوبلل۔

۸۶:۔ په دے آیت کښ اشاره ده چه د دین کار په لیدو سره غصه کیدل د انبیاء علیه السلام طریقه ده۔ غَضْبَانَ ظاهری غصے ته وئیلے شی۔

قَالُوْا مَآ اَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا

دوی اوئیل خلاف نه دے کړے مونږ ستا دَ وعدے نه په اختیار خپل سره

وَلٰكِنَّا حُمِّلْنَآ اَوْزَارًا مِّنْ زِيْنَةِ

او لیکن بوج کړے شو په مونږ بانده ګناهونه (دَخیانت) دَ وجے دَ کالو

الْقَوْمِ فَقَذَفْنٰهَا فَكَذٰلِكَ اَلْقَى السَّامِرِيُّ ﴿۸۷﴾

دَ قوم دَ فرعون نه نو اوغورځول مونږ هغے لره نو دارنګ اوغورځول سامري هم.

او آسِفًا دَ زړه خفګان ته وئیلے شی او هغه زیات غضب دے۔ وَعْدًا حَسَنًا، دَ دیته مراد مسئله دَ توحید ده۔ هغه چه الله تعالیٰ ثابت کړی په دلیلونو او معجزاتو سره او دیته وعده دَ الله تعالیٰ وئیلے شی۔ حاصل دا دے چه تاسو خلاف اوکړو دَ وعدے دَ توحید نه نو دَ دے وجے نه چه وخت پرے بانده ډیر تیر شوے دے زړه شوه نو ستاسو نه هیره شوه۔ او یا قصدًا مو خلاف اوکړو۔ نو دَ الله تعالیٰ غضب نازلیدل غواړئ۔ دوئیم دا چه وَعْدًا حَسَنًا نه مراد وعده دَ تورات دَ ورکولو ده۔ حاصل دا چه تاسو خلاف اوکړو دَ وعدے نه (یعنی دَ وعدے انتظار مو هم ونکړو) دَ دے وجے نه چه موده ډیره شوے وه نو ستاسو نه وعده هیره شوه یا مو اراده اوکړه چه دَ الله تعالیٰ غضب در بانده نازل شی نو ځکه تاسو خلاف اوکړلو۔ او ترتیب دَ جملو په اصل کښ دا سے دے۔ اَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًا فَاَخْلَفْتُمْ مَّوْعِدِيْ اَفَطَالَ عَلَيْكُمُ الْعَهْدُ اَمْ اَرَدْتُّمْ اَنْ يَّحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ۔ یعنی دَ وعدے دَ مخالفت دَ پاره اوله وجه ده یا دوئیمه وجه ده۔

۸۷۔ یعنی دوی دَ خلاف دَ وعدے دَ پاره دریمه وجه بیان کړله سوا دَ هغه دوه وجو نه چه په وړاندے آیت کښ تیر شوے دے۔ دَ دریمے وجے حاصل دا دے چه مونږ لره سامري په مسئلے سره پوره کړلو او مجبوره ئے کړو ځکه چه هغه راته اوئیل چه تاسو سره دَ قوم فرعون زیورات دی۔ او دا مالِ غنیمت دے۔ او مال دَ غنیمت نه فائده اخستل حلال نه دی (لکه چه دا حکم وړاندے په تیر شوی امتونو کښ) نو دا په اور سوځول لازم دی

فَاَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ

پس جوړ ئې کړو دوی لره سخے جوسه چه هغې لره آواز وؤ

فَقَالُوْا هٰذَآ اِلٰهُكُمْ وَاِلٰهُ مُوْسٰى فَنَسِيَ ﴿٨٨﴾

نو دوی اُوئیل خلقو ته دا ستاسو دَ بنی ګی کولو حقدار دَے او اله دَ موسیٰ هم دَے پس ؤ هیر کړیدے

نو مونږ دَ دے ګناه نه ځان دَ- بچ کولو دَپاره زیورات اُور ته اوغورځول
او سامری هم دَ دهوکے راکولو دَپاره خپل زیورات اُور ته اوغورځول.
او دا بهانه دَ دے خلقو په حقیقت کښ غلطه وه، دَ دے وجے نه که دَ
دے زیوراتو سوځول لازم وے نو موسیٰ علیه السلام ولے دا حکم نه
کوؤ چه نبی دَ یو څیز حرمت نه وی بیان کړے نو امتی له هیڅ اختیار
نیشته چه هغه حرام کړی. نو دوی تقلید اوکړو دَ سامری په خلاف
دَ موسیٰ علیه السلام کښ.
فائده :- ابن کثیر لیکلی دی دے خلقو ځان دَ وړے ګناه نه رد دَ دوی
په ګمان کښ) بچ ساتلو او لویه ګناه چه دَ عجل عبادت کول وؤ دَ هغے
نه ئې ځان بچ نه ساتلو دا دَ بے عقلو کار دَے.
زِيْنَةِ په معنیٰ دَ کالو دَے. او زَارًا نه مراد ګناهونه دی. حُمِّلْنَآ نه مراد
دَ ګناه دَ خیانت کولو دے ځکه چه تحمیل کله په معنیٰ دَ خیانت راځی.
٨٨: جَسَدًا دلالت کوی چه دغه سخے دَ غوښے او هډوکو او وینو نه
وؤ بیل شوے بلکه دَ سرو زرو دؤ او کیدیشی چه دَ آواز کولو دَپاره ئې
پکښ څه آله لګولے وه. او دا روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه
مفسرینو نقل کړیدے. فَقَالُوْا اشاره ده چه دَ سامری نور ملګری هم
هم وؤ. او هغه ټولو دَ سخی دَ عبادت کولو ته دعوت شروع کړے دو. او دوی
ورته اله دَ دے وجے نه وئیل چه دَ دوی عقیده وه چه الله تعالیٰ په دے جسد
کښ دننه حلول کړے دے او الله تعالیٰ دَ دے سخی په صورت کښ ښکاره
شوے دے. او دَ سخی نه چاپیره طوافونه اوکړل ئې کوله او دا ئې عبادت
ګڼلو لکه بعض متصوفه اوس هم کړیدل او غِنا کولو ته عبادت وائی او
وائی چه دا چشتیه طریقه ده. او دا دَ ټولو حلولیه، اتحادیو عقیده ده.
فَنَسِيَ ضمیر دَ نَسِيَ راجع دے موسیٰ علیه السلام ته نو دا داخل دے

أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا
آیا دوی نه پوهیږي چه دا سخے دوی ته نشي گرځولے هیڅ جواب
وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿۸۹﴾
او نه اختیار لري دوی لره دَ ضرر او نه دَ فائدے ورکولو۔
وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَارُونُ مِنْ قَبْلُ
او یقینًا دیئلے وؤ دویته هارون علیه السلام دَ دینه مخکښ
يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ
اے قومه زما یقینًا فتنه (شرک) کښ اوغورځولے شوئ په سبب دَ دیے سخي سره او یقینًا ستاسو رب
الرَّحْمَٰنُ فَاتَّبِعُونِي وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِي ﴿۹۰﴾
رحمٰن دے پس زما دَ عمل تابعداری کوئ او اطاعت کوئ دَ خبرے زما۔

لاندے دَ قالوا نه او یا راجع دے سامري ته نو دا قول دَ الله تعالیٰ دے چه سامري خپل اِلٰه هیر کړیدے۔
۸۹:۔ په دے آیت کښ رد دے په دغه مشرکینو باندے په نفي کولو دَ صفتونو دَ الوهیت سره دَ سخي نه۔ یو صفت کلام کول او جواب ورکول دی نو معلومه شوه چه کلام دَ الله تعالیٰ صفت دے۔ دویم صفت اختیار دَ نفع او ضرر دے۔ ځکه چه اِلٰه حق اختیارمند دَ نفعے او ضرر وي۔
فائده :- دا دواړه صفتونه په هغه مرده گانو او اولیاء کرامو کښ هم نه دي موجود چه دے خلقو دَ هغوی نه معبودان جوړ کړے دي۔ نه خبرے کولے شي۔ او نه جواب ورکولے شي۔ او نه اختیار دَ نفع او ضرر دَ چا لره شي۔
۹۰:۔ په دے آیت کښ ذکر دَ هارون علیه السلام دے قوم خپل ته په څلورو جملو کښ۔ په اوله جمله کښ رد دے په شرک باندے۔ او اشاره ده چه معامله دَ سامري ټوله فتنه ده۔ او په دویمه جمله کښ بیان دَ توحید دے۔ او په دریمه جمله کښ امر دے په اتباع سره۔ او په څلورمه جمله کښ امر دے په اطاعت سره او دا خلاصه ده دَ دعوت

قَالُوْا لَنْ نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عٰكِفِيْنَ حَتّٰى

دوی اوئیل همیشه به یو مونږ پدے سخی منجوران (عبادت کوونکی) تر دے

يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوْسٰى ﴿٩١﴾ قَالَ يٰهٰرُوْنُ مَا

چه واپس راشي مونږ ته موسیٰ. اوئیل موسیٰ علیه السلام اے هارون څه څیز

مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوْا ﴿٩٢﴾ أَلَّا تَتَّبِعَنِ ط

منع کړه تا لره هر کله چه تا دوی اولیدل چه گمراه شول. چه تا زما تابعداری اونکړه

أَفَعَصَيْتَ أَمْرِيْ ﴿٩٣﴾ قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ

آیا نا فرمانی اوکړه تا دَ حکم زما نه. اوئیل هغه اے دَ مور ځویه مه نیسه

دَ حق. او دائے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه څوک دا استدلال یا اعتراض اونکړی چه هارون علیه السلام مداهنت کړیدے نو معلومه شوه چه مداهنت جائز دے

فائده :- فرق په مینځ دَ اتباع او دَ اطاعت کښ دا دے، چه اتباع په عمل او په طریقه کښ ده او اطاعت په وینا او په حکم کښ دے یعنی هارون علیه السلام قوم ته اوئیل چه زما پشانتے عمل کوئ په طریقه دَ توحید سره او زما دَ حکم اطاعت اوکړئ په شرک پریخودلو سره.

سوال :- دا جواب دے دَ قوم دَ طرف نه هارون علیه السلام ته ځکه چه دوی هغه کمزورے گڼړه، او دَ موسیٰ علیه السلام واپس کیدل ئے شرط کړه ځکه دَ دوی خیال دو چه موسیٰ علیه السلام به عبادت دَ سخی کښ زمونږ موافقت اوکړی.

فائده :- دَ عکوف معنیٰ دا ده چه یو شی لازم اونیسی، او هغے ته توجه اوکړی په طریقه دَ تعظیم او دَ عبادت سره دوی هم دَ هغے سخی عبادت او تعظیم شروع کړو او دَ هغے نه به ئے طواف کوو او کړا به ئے کوله.

سوال :- هر کله چه تیر شوو آیتونو نه معلومه شوه چه هارون علیه السلام مینځ مداهنت نه دے کړے لیکن موسیٰ علیه السلام خبر نه وو نو دَ غصے دَ وجے نه دَ هغهٔ دَ ږیرے نه ئے دَ نیولو اراده اوکړله او سر ئے ورله اونیولو او ځان ته ئے راښکه او ورته ئے اوئیل هغه خبره چه پدے دوا پهٔ

بِلِحْيَتِيْ وَلَا بِرَاْسِيْ ۚ اِنِّيْ خَشِيْتُ اَنْ تَقُوْلَ

ګیره زما | او نه سر زما | یقیناً زه ویریدلے یم چه ته به اووایے

فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَلَمْ تَرْقُبْ

دلے دلے پیدا کړے په مینځ د بنی اسرائیلو کښ | او لحاظ دِ نهٔ کوؤ

قَوْلِيْ ۝۹۴ قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يٰسَامِرِيُّ ۝۹۵

زما د خبرے - او وئیل موسیٰ څه سبب وؤ ستا د دے کار) اے سامری -

آیتونو کښ ده - اَلَّا تَتَّبِعَنِ، دوه معنے دی - اوله معنیٰ دا ده چه تا د دوی سره جنګ ولے نه کوو یعنی په لاس سره منع کول دِ ولے نه کول پشانته زما - دویمه معنیٰ دا ده چه ته ولے زما د خبرولو د پاره نهٔ راتلے میقات ته - او د اَمْرِیْ نه مراد هغه دے چه سورة اعراف کښ ذکر کړے شوے دے - په آیت ۱۴۲ کښ - او دا زورنه د موسیٰ علیه السلام بناء وه د هغه په اجتهاد باندے ګنی نو هارون علیه السلام خپله ذمه واری اداکړے وه.
۹۴ :- په دے آیت کښ بیان د عذر دے د هارون علیه السلام په جواب د دے قول کښ چه اَلَّا تَتَّبِعَنِ، یعنی که ما د دوی سره قتال کولے یا تا پسے درغلے وے او دوی مے پریخودلے وے نو د دوی په مینځ کښ افتراق او دلے پیدا کیدے -
وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِیْ ، د دے جملے دوه احتماله دی - اول احتمال دا دے، چه دا قول د هارون علیه السلام دے یعنی که بنی اسرائیل دلے دلے شوے وے - او ما تا ته عذر پیش کولے، نو تا به زما عذر نه قبلولو - دویم احتمال دا دے چه دا داخل دے په قول د موسیٰ علیه السلام کښ او د قَوْلِیْ نه مراد هغه دے چه سورة اعراف ۱۴۲ کښ تیر شوے دے -
فائده :- د دے آیت نه معلومه شوه چه ږیره او سر دومره ساتل چه نیولے کیدے شی، سنت د پیغمبرانو دے - تو څوک چه وائی چه د ګیرے مقدار مقرر نشته که هر څومره تر ینه پریکولے شی نو جائز دے او دلیل نیسی په حدیث د سنن ترمذی سره چه نبی صلی الله علیه وسلم به د خپلے ګیرے دا طرافو نه اخستل کول نو هغه حدیث ضعیف دے او د دے آیت نه خلاف دی.
۹۵ :- مراد د دے تپوس نه دا دے چه څه باعث وو په تا باندے او څه

قَالَ بَصُرْتُ بِمَا لَمْ يَبْصُرُوْا بِهٖ

اوئیل سامری زه پوهه شوم په هغه څه چه نه دي دوی پوهه په هغې باندے

فَقَبَضْتُ قَبْضَةً مِّنْ اَثَرِ الرَّسُوْلِ

پس راواخستله لږه دَ نقش قدم دَ رسول نه

فَنَبَذْتُهَا وَكَذٰلِكَ سَوَّلَتْ لِيْ نَفْسِيْ ﴿۹۶﴾

بیا م اوغورځوله او دا رنګ خائسته کړیدے ماته نفس زما۔

دلیل ووستا چه دَ سخی نه دے معبود جوړ کړو۔

۹۶:- حاصل دَ جواب دا دے چه ما سره هیڅ دلیل نه وو صرف زما دَ نفس خبره وه او دا رنګ ز یاتوالے دَ علم زما وو دَ بنی اسرائیلو نه پدے آیت کښ غوره تفسیر دا دے چه مراد دَ بصیرت نه علم دے په حقانیت دَ موسٰی علیه السلام او مراد دَ اَثَرِ الرَّسُوْلِ نه تابعداري دَ موسٰی علیه السلام ده۔ او مراد دَ قَبْضَةً نه لږه تابعداري ده او مراد دَ فَنَبَذْتُهَا نه پریخودل دَ تابعداری دَ موسٰی علیه السلام دی په طریقه دَ مرتدینو سره او سبب دَ هغې دَ نفس وسوسے دی۔ اول قول مشهور دے په نیز دَ مفسرینو چه مراد دَ مَالَمْ يَبْصُرُوْا نه خاوره ده دَ لاندے دَ قدم دَ آس دَ جبرائیل علیه السلام او دَ هغې نه سامری یو موټے راخستلے وه او سخی کښ اوغورځوله نو دَ هغه نه غویئه جوړه شوه او اوازونه یې شروع کړل لیکن دا قول بناء دے په اسرائیلی روایتونو باندے چه هغه لیدلی دَ سامری دی جبرائیل علیه السلام سره او دا رنګ په عبادت کښ ډیر تقدیر راځی اثر حافر فرس الرسول او دا دَ فصیح کلام سره نه خائیږی او دا رنګ دَ سخی نه غویئه جوړیدل هم صحیح ثابت ندی نو معلومه شوه چه اول قول غوره دے هغه خطیب شربینی او امام رازی او آلوسی پخپل تفسیرونو کښ لیکلے دے۔

قَالَ فَاذْهَبْ فَإِنَّ لَكَ فِي الْحَيٰوةِ أَنْ

اوئیل موسیٰ پس ځه (ردرلے قوم نه) پس یقیناً تا لره په ژوند د دنیا کښ

تَقُولَ لَا مِسَاسَ ۖ وَإِنَّ لَكَ مَوْعِدًا

وینا ستا دہ چه ما له لاس مهٔ راوړئ او یقیناً رستا د هلاکت) دپاره مقرر وخت دے

لَّنْ تُخْلَفَهٗ ۚ وَانْظُرْ إِلٰى إِلٰهِكَ الَّذِيْ

چه خلاف نشي کیدے ستا د هغې نه، او اوګوره خپل معبود (جوړ کړے شوے) ته هغه چه ته

ظَلْتَ عَلَيْهِ عَاكِفًا ۖ لَّنُحَرِّقَنَّهٗ ثُمَّ

هر وخت ئې په هغه باندے منجوړ. خامخا اوبه سیزو مونږ دے بیا

لَنَنْسِفَنَّهٗ فِي الْيَمِّ نَسْفًا ﴿۹۷﴾ إِنَّمَا إِلٰهُكُمُ

به ئې اونولو په دریاب کښ په نوستلو سره. یقیناً ستاسو حقدار د بندګئ

اللّٰهُ الَّذِيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَسِعَ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه نشته وا کدار رسوا د هغه نه، راګیر کړے دے

۹۷:- یعنی موسیٰ علیه السلام دهٔ ته اوئیل چه زمونږ نه جدا شه او د هیچا سره به لاس هم نه لګوے، او نهٔ به تا سره څوک لاس لګوی یعنی بنی اسرائیل ئې منع کړل چه د دهٔ سره به هیڅ تعلق نهٔ ساتئ اونه به د دهٔ سره خبرے کوئ.

فائده ۱:- دا دلیل دے پدے خبره چه مشرکان او بدعتیان او ګنهګارو خلقو سره قطع تعلق پکار دے دپاره د دے چه ګناه د هغوی اثر اونکړی په نورو خلقو کښ او دا رنګ په تفسیر القرطبی کښ ذکر کړے دی.

فائده ۲:- موسیٰ علیه السلام هغه سخے اوسیزهٔ او ایرے د هغه ئې دریاب ته اوغورځولے دا دلیل دے پدے خبره چه کوم څیز باندے شرک کړے شوے وی نو د هغے نه فائده اخستل نهٔ وی پکار.

كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ﴿٩٨﴾ كَذٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيْكَ

هر څیز لره په علم خپل کښې. دغسې بیانوؤ مونږ په تا باندې بعضې

مِنْ اَنْۢبَآءِ مَا قَدْ سَبَقَ ۚ وَقَدْ اٰتَيْنٰكَ

دَ خبرو دَ هغې نه چه مخکښې تیرشویدی. او یقیناً درکړیدې مونږ تاته

مِنْ لَّدُنَّا ذِكْرًا ﴿٩٩﴾ مَنْ اَعْرَضَ عَنْهُ

دَ خپل طرف نه یاداشت (قرآن) - چا چه مخ اوګرځوؤ دَ دینه

۹۸:- په دے آیت کښې بیان دَ توحید دے په رد دَ هغې کسانو کښې چه عبادت دَ سخي ئې کړے وؤ - او رد دَ شرک فی العلم ئې دلیل ذکر کړے دے دَ پاره دَ رد دَ شرک فی الالوهیت.

۹۹:- خلاصه :- دَ دے آیت نه دَ سورت تر آخره پورے دویمه حصّه ده - پدیکښې تخویف اخروي ئې تفصیلاً شپا رس وجوهو سره او بشارت دے او ترغیب دے قرآن ته او شجاعت درسول دی، په بیان کولو دَ توحید باندے بیا واقعه دَ آدم علیه السلام ده دَ ابلیس سره دَ پاره دَ بچ کولو دَ نسیان نه بیا تخویف اُخروي او تخویف دنیوي دے بیا آداب دی دَ پاره دَ دعوت سرهٔ دَ مسئلے دَ توحید نه بیا زجر دے او بیان دَ حکمت دے دَ رالیږلو دَ رسول او په آخري آیت کښې تخویف دے.

تفسیر :- پدے آیت کښې تشجیع درسول دی په واقعاتو دَ پیغمبرانو سره اجمالاً چه په هغه ټولو واقعاتو کښې تذکیر او تشجیع مقصد دے هغې نه ذکر وئیلے شي دا رنګ ذکر په معنیٰ دَ وحي او دَ قرآن سره دے.

اَنْۢبَآءِ مراد تر نه غټے غټے خبرے دی ټول جزئیات دَ قصوئې نه دی ذکر کړي.

فَإِنَّهُ يَحْمِلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وِزْرًا ﴿۱۰۰﴾ خٰلِدِيْنَ

پس يقيناً پورته کوي به په ورځ دَ قيامت پيټے دَ ګناه - هميشه به وي

فِيْهِ ۭ وَسَاۗءَ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ حِمْلًا ﴿۱۰۱﴾ يَّوْمَ

په هغې کښ، او بد دے دا دوي دَپاره په ورځ دَ قيامت لوے بار. په کومه ورځ چه

يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ وَنَحْشُرُ الْمُجْرِمِيْنَ يَوْمَىِٕذٍ

پوکے اوکړے شي په شپيلئ کښ او راجمع به کړو مونږ مجرمان په دغه ورځ

زُرْقًا ﴿۱۰۲﴾ يَّتَخَافَتُوْنَ بَيْنَهُمْ إِنْ لَّبِثْتُمْ

شين سترګي. خُوس خُوس به کوي په کورنئ کښ چه نه يئ حصار شوي تا سو

إِلَّا عَشْرًا ﴿۱۰۳﴾ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ

مګر لس ورځے. مونږ ښه خبر يو په هغه چه دوي وائي

إِذْ يَقُوْلُ أَمْثَلُهُمْ طَرِيْقَةً إِنْ لَّبِثْتُمْ

کله چه اويه وائي هوښيار دَ دوي په رائے کښ نه وئ حصار شوي تا سو

إِلَّا يَوْمًا ﴿۱۰۴﴾ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ

مګر يوه ورځ - او (که) تپوس اوکړي دوي ستا نه په باره دَ غرونو کښ نو ورته اوايه

ستا نه تر۱۰۴ پورے پدے آيتونو کښ تخويف اُخروي دے دَپاره دَ اعراض کوونکو دَ ذکر دَ قرآن نه وِزْرًا غټ بوج ته وائي او حِمْلًا مطلق بار ته وائي زُرْقًا خړوالی دَ سترګو ته وائي سره دَ تور والی دَ مخ نه او دويمه معنٰی زُرْقًا ړاندو ته وائي - او دريمه معنٰی زُرْقًا تږو ته وائي.

إِنْ لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا مطلب دا دے چه عام مشرکان دَ ډير هيبت دَ وجے نه ژوند دَ دنيا به لس ورځے اوګنړي او مشران دَ دوي دَ ډير هيبت دَ وجے نه يوه ورځ به ئے اوګنړي. عَشْرًا ئے ځکه اووئيلو چه دا دَ جمع قلت آخري حد دے.

أَمْثَلُهُمْ، غوره او هوښيار دَ دوي، دَ هوښيار په نيز صرف يو ورځ دَ

يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا ﴿١٠٥﴾ فَيَذَرُهَا قَاعًا

وا به لوځوي دا رب زما په الوځولو سره - نو پريږدي به دا زمكه ميدان

صَفْصَفًا ﴿١٠٦﴾ لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجًا وَلَا

خوَاره - نه به وينې ته په هغې كښې خكته والے او نه

أَمْتًا ﴿١٠٧﴾ يَوْمَئِذٍ يَتَّبِعُونَ الدَّاعِيَ

ديرئ - په دغه ورځ به روان وي دا خلق په بلنه كوونكي پسے

دے وجے نه ده چه څومره هوښيار وي نو دَ هيبت احساس به ورباندے ډير وي او چه غافل او كم عقل وي نو مصيبت به په هغه باندے لږ وي او مطلب دَ دے ټولو دا دے چه زمونږ زمانه او عمر لږ ؤو نو مونږ په كفر او شرك كولو كښې معذور يو او دا عذر دے دَ واقع نه خلاف دے.

١٠٥ تا ١٠٧ :- دا هم تعلق لري دَ تخويف اُخروي سره او په دے كښې بيا نوي حال دَ ميدان حشر په ختميدلو دَ غرونو سره دَ مځ دَ زمكے نه.

فائده :- قرآن كريم كښې كوم ځايونو كښې چه يَسْئَلُونَكَ ذكر دے دَ هغې په جواب كښې يئ (قل) ته دلا راوړے او په دے آيت كښې يئ (ف) راوړے دلا. وجه دا ده چه دے آيت كښې (انْ) شرطيه مراد دے يعني كه دا خلق تپوس او كړي دَ غرونو په باره كښې نو ته ورته دا سے جواب ور كړه - نو معلومه شوه چه دا تپوس منكرينو تر دغه وخته پورے نه وو كړے - او كوم ځايونو كښې چه (قل) نشته نو هغه تپوسونه واقع شوي وو - نو مقصد په دے كښې جواب دَ وهم دَ منكرينو دے كه هغوي اُوائي چه قيامت به څه رنګ قائم كيږي ځكه غرونه ډير ټينګ او كلك دي نو دا به څه رنګ فنا كيږي نو جواب يئ اوشو په تفصيل سره.

فَيَذَرُهَا دا ظاهرًا دلالت كوي چه زمكه به ټوله نه فنا كيږي بلكه دَ دے هيئت او شكل به بدل شي - دا قول ډيرو علماؤ غوره كړے دے يا ها ضمير راجع دے هغه بلے زمكے ته چه روستو دَ فنا دَ دے زمكے نه به پيدا كړيشي او دغه دَ نورو علماؤ قول دے.

لَا عِوَجَ لَهٗ ۚ وَخَشَعَتِ الْاَصْوَاتُ لِلرَّحْمٰنِ

نه به وي کږلېچ هغه لره او چپ به شي آوازونه د وېرې د رحمٰن نه

فَلَا تَسْمَعُ اِلَّا هَمْسًا ﴿١٠٨﴾ يَوْمَئِذٍ لَّا تَنْفَعُ

نو نه به آورې ته مګر کشار - په دغه ورځ به نفع نه ورکوي

الشَّفَاعَةُ اِلَّا مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ

سفارش مګر د هغه چاچه اجازت ورکړې هغه ته رحمان

وَرَضِيَ لَهٗ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

او رضا وي د هغه په وینا - خبر دے په هغه حالاتو چه د دوینه وړاندې دي

سـ١٠٨ :- مراد د داعي نه پیشوا د قوم دے یعني پیشوا به نیغ روان وي او تابعدار به ورپسې وي - یا مراد د داعي نه اسرافیل علیه السلام دے - یا مراد د داعي نه امر کوونکے دے په ورځ د قیامت کښ یعني په هغه ورځ به دوی د داعي امر او مني لیکن نن ئې نه مني دا قول ابن کثیر ذکر کړے دے -

او لفظ د لَهٗ په معنیٰ د عَنْهُ دے راجع دے داعي ته یا لَهٗ ضمیر په اعتبار د کل واحد سره راجع دے فاعل د یتبعون ته -

هَمْسًا آواز د قدم اخستلو ته وائي یا ساه اخستلو ته وائي - دواړه قولونه صحیح دي -

سـ١٠٩ :- په دے آیت کښ رد د شفاعت قهریه شرکیه دے او قَوْلًا نه مراد کلمه د توحید ده - د آیت یو مطلب دا دے چه مَنْ اَذِنَ لَهُ الرَّحْمٰنُ نه مراد شفاعت کوونکے دے - یعني شَفَاعَةُ اَحَدٍ اِلَّا مَنْ - یا مراد د دینه هغه خوک دے چه هغه د پاره شفاعت کیږي او د لفظ د مَنْ نه مخکښ حرف د (ل) پټ دے - او الشفاعة په معنیٰ د شفاعت احد دے الاشفاعة من ---- آه - او په عبارت کښ تقدیر دے الشفاعة لاحد الا لمن اذن آه - وَرَضِيَ لَهٗ قَوْلًا، مراد دا دے چه هغه په دنیا کښ توحید طرفته دعوت کړیدے یا د توحید کلمه ئې

وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ﴿١١٠﴾

او هغه چه د دوی نه روستو دی او نه شی راګیرولے دوی هغے (حالاتو لره) په خپل علم کښ.

وَعَنَتِ الْوُجُوهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ

او عاجز به شی ټول مخونه ژوندی ذات د ټول عالم راټینګونکی ته او یقیناً نا امیده دی د

مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ

هر څیز نه) هغه څوک چه اوچت ئے کړے وی ظلم (یعنی) د شرک. او چا چه عمل اوکړو د

الصَّالِحَاتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا

نیک عملونو نه او حال دا چه دے مؤمن وی نو نه ویریږی د زیاتی نه

وَلَا هَضْمًا ﴿١١٢﴾ وَكَذَٰلِكَ أَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا

او نه د کمی نه. او دغسے مونږ نازل کړیدے دا قرآن

پس اسے طریقے سره وئیلے ده چه الله تعالیٰ په هغے بانډے راضی شوے وی.

۱۱۰:. دا دلیل دے د تیرشوی آیت یعنی دا شفعاء بے اجازته شفاعت نشی کولے ځکه چه الله تعالیٰ د دوی په حال او په عجز عالم دے. په دیکښ اثبات د صفت د علم دے الله تعالیٰ لره او رد د شرک فی العلم دے په ضمیر راجع دے مَا حرف ته.

۱۱۱:. دا هم دلیل دے د مخکښ چه دوی بلا اجازته شفاعت نشی کولے ځکه چه په ورځ د قیامت په ټول الله تعالیٰ ته عاجز دی او دا هم په تخویف کښ داخل دے. وُجُوهٌ نه مراد مخونه او تندی دی یا مراد د دے نه لوے لوے خلق دی او د ظُلْمًا نه مراد په دے آیت کښ شرک دے.

۱۱۲:. دے آیت کښ بشارت دے. او فرق په مابین د ظُلْمًا او د هَضْمًا کښ دا دے چه ظلم ټول حق منع کولو ته وائی او هضم منع کول د بعضے حق نه. یا ظلم نه مراد زیاتے کول دی په ګناهونو کښ او مراد د هضم نه کمول د نیکو دی او ظلم په لغت کښ د اضداد و نه دے په معنیٰ د زیاتی او کمی دواړو سره استعمالیږی.

عَرَبِيًّا وَّصَرَّفْنَا فِيْهِ مِنَ الْوَعِيْدِ

صاف بیان والا او قسم قسم بیان کړیدي مونږ په دیکښ عذابونه

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ اَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿۱۱۳﴾

د دے د پاره چه دوي بچ شي یا په پیدا کړي دوي لره یاداشت۔

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ وَلَا تَعْجَلْ

تو اوچت دے الله تعالیٰ چه بادشاه حق دے او تادي مه کوه

بِالْقُرْاٰنِ مِنْ قَبْلِ اَنْ يُّقْضٰٓى اِلَيْكَ

په قرآن سره مخکښ د دینه چه پوره کړیشي تا ته

وَحْيُهٗ ۫ وَقُلْ رَّبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا ﴿۱۱۴﴾

وحي د ده او وایه اے ربه زیاتی کړے زما علم۔

۱۱۳:۔ په دے آیت کښ ترغیب دے، قرآن ته او په دیکښ د قرآن پاک دوه فائدے ذکر دي په طریقه د مانعة الخلو سره یعني د دے دواړو فائدو نه به خالي نه وي او جمع د دواړو فائدو هم امکان لري. او دواړو فائدو کښ فرق دا دے چه د تقوی نه مراد عمل کول دي په قرآن د وجے د یرے د عذاب د الله تعالیٰ نه۔ او د احداث ذکر نه مراد وعظ قبلول دي، په وجه د رغبت سره۔ یا مراد د تقوی نه شرک کفر او گناهونو نه پریخودل دي او مراد د ذکر نه توحید او ایمان او طاعات پیدا کیدل دي۔

۱۱۴:۔ په دے آیت کښ اول بیان د توحید دے چه هغه نتیجه ده د صداقت د قرآن چه مخکښ آیت کښ ذکر شو۔ او په دے آیت کښ اثبات د علو دے د پاره د الله تعالیٰ چه صفتِ حقیقیه د الله تعالیٰ دے په غیر د تشبیه او تمثیل او په غیر د تحریف او تاویل نه۔ او بیا بیان د ادب د لوستلو د قرآن دے۔ او د دے ادب اول مطلب دا دے چه کله جبرائیل علیه السلام قرآن نازلوی د هغه د فارغ کیدو نه مخکښ تلوار مه کوه په قرآن لوستلو کښ او دا ئے په سورة قیامة کښ هم ذکر دي۔

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ اِلٰٓى اٰدَمَ مِنْ قَبْلُ

او یقیناً حکم کړے وو مونږ آدم علیه السلام ته مخکښې دَ دینه

فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهٗ عَزْمًا ﴿۱۱۵﴾ وَاِذْ قُلْنَا

نو هغه هیر کړو او نه وو موندلے مونږ دهٔ لره قصد کول (دَ ګناه) او کوم وخت چې اُوئیل مونږ

لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوْٓا اِلَّآ

ملائیکو ته سجده اوکړئ آدم علیه السلام ته پس سجده اوکړه دوی مګر

او دویمه معنیٰ دَ آدب داده، چه څو دَ قرآن په مراد باندے ته پُوهه نو دَ هغے ته مخکښې ئے مهٔ بیانوه، نو مراد دَ وحی نه بیان او تفسیر دَ هغے دے - او دا معنیٰ هم قرطبی دَ مجاهد نه نقل کړیده - او په آخر دَ آیت کښې تعلیم دَ دُعا دے دَ زیاره دَ زیاتوالی دَ علم چه وحی ده - دا دلیل دے پدے خبره چه نبی صلی الله علیه وسلم زیاتوالی دَ علم ته محتاج وو - نو اُمت دَ هغه ضرور محتاج دے - او دَ دے نه معلومه شوه چه علم دَ پیغمبر اتو کُلی او محیط نهٔ دے ځکه چه زیاتوالی ته محتاج دے - او دا دلیل دے په فضیلت دَ علم باندے ځکه چه الله تعالیٰ دَ هغے دَ زیادت دُعا خوښه کړے ده - او هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم دا دُعا لوستله دَ دے وجے نه په هغه باندے تر وفات پورے وحی نازلیدله او دا په حدیث دَ مسلم کښې وارد دی -

۱۱۵ :- پدیکښې ابتداء دَ واقعے دَ آدم علیه السلام ده او بیان دَ عذر دَ آدم علیه السلام دے - او ربط دَ آیت دَ مخکښې سره دا دے چه مخکښې آیت کښې ترغیب وو په یاره دَ قرآن کښې نو پدیکښې تحذیر دے (یره ورکول) دَ نسیان نه په شان دَ آدم علیه السلام او عزم په معنیٰ دَ قصد سره دے - یعنی آدم علیه السلام قصد دَ ګناه نه وو کړے - دلته نسیان په خپله معنیٰ حقیقی سره دے په معنیٰ دَ ترک سره نه دے او ابن کثیر دا روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه په نقل دَ سعید بن جبیر رضی الله عنه او ابن ابی طلحه رضی الله عنه سره راوړے دے - او هر کله چه نسیان پخپله معنیٰ سره دے نو دا دلالت نه کوی په ګناه

إِبْلِيسَ أَبَىٰ ﴿۱۱۶﴾ فَقُلْنَا يَا آدَمُ إِنَّ هَٰذَا

ابلیس انکار او کړو۔ نو اوویل مونږ اے آدم یقینًا دا

عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا

دشمن ستا دے او ستا د بی بی پس او نه باسی تاسو دواړه

مِنَ الْجَنَّةِ فَتَشْقَىٰ ﴿۱۱۷﴾ إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ

د جنت نه پس په تکلیف به شې۔ یقینًا تا لره ده (ځکه ابلیس د وسوسے منلو نه) چه نه به اوږے کیږې

فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿۱۱۸﴾ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ

په دیکښ او نه به بربنډ یږے۔ او یقینًا ته نه به تږے کیږے

فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿۱۱۹﴾ فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ

په دیکښ او نه به دے گرمی کیږی۔ پس لمسه اوکړه هغه ته

کولو د آدم علیه السلام باندے ځکه چه نسیان گناه نه ده۔

۱۱۶:۔ تفسیر د سجدے او انکار د ابلیس په سورة بقره او اعراف او حجر او سورة کهف کښ تیر شوے دے۔ آبی دلیل دے چه سبب د سجدے نه کولو انکار د اطاعت د امر د الله تعالیٰ نه او دا کفر دے۔

۱۱۷:۔ په دے آیت کښ تنبیه ده آدم علیه السلام ته په دُشمنئ د ابلیس سره او منع ده د هغهٔ د تابعدارئ نه چه هغه سبب گرځی د جنت نه د وتلو د پاره او سبب گرځی د پاره د مشقت نو په فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا کښ نسبت ابلیس ته مجازی سببی دے۔

فَتَشْقَىٰ د مشقت نه ماخوذ دے د دنیا مشقتونه او تکالیفو ته اشاره ده۔ دا د شقاوت نه ماخوذ نه دے۔

۱۱۸، ۱۱۹:۔ په دے آیتونو کښ څلور نعمتونه د جنت ذکر کړی۔ لیکن دا مشروط دی په دے شرط سره چه د حکم د الله تعالیٰ نه خلاف اونکړی۔ اول نعمت دا دے چه په جنت کښ لوږه نشته۔ او دویم نعمت دا دے چه بربنډ کیدل نشته او دا دواړه ئے یو ځائے ذکر کړل ځکه چه د جوع تعلق د باطن سره دے او بربنډ والی تعلق د ظاهر سره دے

الشَّيْطٰنُ قَالَ يٰٓاٰدَمُ هَلْ اَدُلُّكَ عَلٰى

شیطان اوئیل ئے اے آدم آیا او ښایم تا ته

شَجَرَةِ الْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلٰى ﴿۱۲۰﴾ فَاَكَلَا

وَنه دَ هیش والی او دَ بادشاهئ چه نه به زړیږئ - نو او خوړو

مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا

دے دواړو دَ دغه ونے نه پس ښکاره شول دوی ته عورتونه دَ دوی او شروع شول

يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ

لګولے ئے په ځان باندے دَ پاڼړو دَ جنت نه

او دواړه ذلت دے او دا رنګ اول حاجت دَ انسان طعام او بیا جامے ته دے - او دریم نعمت دا دے چه جنت کښ تنده نشته - او څلورم نعمت دا دے چه ګرمی نشته، او دَ دے اول تعلق دَ باطن سره دے او دَ دویم تعلق دَ ظاهر سره دے او دواړه ګرمی ده نو ځکه ئے یو ځائے ذکر کړل - او سبب دَ ترتیب دَ دے څلورو دا دے چه انسان اول دَ طعام طلب کوی او بیا دَ جامے طلب کوی، بیا دَ اوبو طلب کوی، بیا دَ ګرمئ نه دَ بچ کیدو طلب کوی -

فائده :- په جنت کښ ګرمی او یخنی دواړه نشته لیکن دُنیا کښ دَ ګرمئ تکلیف زیات او عام وو خاص په حجاز کښ نو ځکه ئے هغه خاص ذکر کړو -

۱۲۰ :- په دیکښ وسوسه ده په دوو طریقو سره اول دا چه دَ دے ونے په خوراک سره هیشوالے حاصلیږی یعنی دَ مرګ نه به بچ شے - دویم دا چه په دے سره هغه نعمتونه حاصلیږی چه دَ هغے فنا نشته - یعنی ته به هم همیشه ئے او نعمتونه به هم همیشه وی - او شَجَرَةِ الْخُلْدِ په حقیقت کښ په جنت کښ بله او نه وه ابن کثیر په روایت دَ احمد سره ذکر کړیده او شیطان په دروغه سره دے شجرے (چه آدم علیه السلام ترینه منع شوے وو) ته دا نوم کیخودلو -

وَعَصٰى اٰدَمُ رَبَّهٗ فَغَوٰى ﴿۱۲۱﴾ ثُمَّ

او خلاف اوکړو آدم دَ حکم دَ رب نه (په هیره سره) نو مراد ته اونه رسیدو بیا

اجْتَبٰهُ رَبُّهٗ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدٰى ﴿۱۲۲﴾

غوره کړو دهٔ لره رب دَ دهٔ نو رحمت نه ئے پرے را اوګرځول او کلک ئے کړو۔

۱۲۱:۔ په دے آیت کښ لفظ دَ سَوْاٰتُ او خصف کول صریح دلیل دے
چه دَ هغوئ نه لباس لرے شو او بربنړ شول او عورتونه ئے ښکاره شول
لیکن تثنیه مقابل دَ تثنیه کښ تقاضا کوی چه هر یو نه خپل عورت
ښکاره شو دَ بل دَ عورت دَ لیدلو دلیل نشته او دا عیب نه دی لیکن طبع
نه خلاف دی او دَ دے صریح الفاظو تاویل کول او داسے وئیل چه دَ
جنت لباس تریه لرے شو او نورے جامے ورپورے وے او
سَوْاٰتُ په معنی دَ نقصانا تو سره دے نو دا تحریف دے۔
عصیان مخالفت دَ امر نه وائی، که په قصد سره وی، او که په
هیرے سره وی۔ هر کله چه قصداً وی نو هغه ګناه ده، او چه په هیره
وی نو ګناه نه ده۔ او مخالفت دَ آدم علیه السلام په هیرے سره وو۔ نو
دا دلیل نهٔ دے دَ هغه په ګنهګار کیدلو باندے۔ او غوایت په معنیٰ دَ
محروم کیدلو دے دَ مقصد نه یعنی آدم علیه السلام چه په سبب دَ
وسوسے دَ ابلیس سره خوراک دَ ونے دَ کوم مقصد دَ پاره اوکړو نو
هغه مقصد ورته حاصل نهٔ شو۔ امام قرطبي په خپل تفسیر کښ دوه
ضروری خبرے لیکلے دی۔ اول دا چه هیچا له دا نه دی جائز چه دَ
آدم علیه السلام په باره کښ په طریقه دَ اِخبارِ مستقل سره دا جمله
استعمالوی مګر هغه وخت جائز ده چه تلاوت دَ قرآن کوی، یا حدیث
نقل کوی۔ دویمه خبره دا ده چه هیچا له دا نهٔ دی جائز چه داسے
اوائی چه آدم علیه السلام عاصی یا غاوی وو۔ ځکه چه صیغه دَ فعل
مستلزم نه ده اطلاق دَ اسم فاعل لره۔
۱۲۲:۔ مراد دَ اجتباء او دَ هدایت نه ترقی دَ مرتبے ده او کلکول دی دا
دلیل نه دے په دے خبره چه دا کار آدم علیه السلام دَ نبوت نه مخکښ کړیدے
لکه چه معتزله وائی۔ تفصیل ئے په سورة بقره کښ تیر شویں دے۔

قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ

اوویل الله تعالیٰ کوز شئ دَ دے ځایه نه ټول بعضے ستاسو دَ بعضو

عَدُوٌّ ۚ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى

دشمنان به وی پس که چرے راغے تاسو ته زما دَ طرف نه هدایت

فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ

نو چا چه تابعداری اوکړه دَ هدایت زما نو نه به بے لارے کیږی

وَلَا يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾ وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي

او نه به بدبخت کیږی - او چا چه مخ واړوو دَ یاداشت زما نه

فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُ

پس یقینًا هغه لره ژوند تنګ دے او راپورته به کړو دے

يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ

په ورځ دَ قیامت ړوند - او به وائی اے ربه

س ۱۲۳ :- غوره دا ده چه خطاب په دے آیت کښ آدم علیه السلام او ابلیس دواړو ته دے او حوا تابع دَ آدم علیه السلام ده - ځکه چه روستو جمله دَ دے دلیل دے -

فائده :- سورة اعراف کښ اول اهبط ذکر شویوؤ دَ پاره دَ ابلیس او هغه دَ هبوط نه مخکښ وسوسه اوکړه بیا الله تعالیٰ دواړه مخاطب کړل په دے آیت کښ او کوم ځائے چه جمع ذکر کړیده هغه دَ دے وجے نه چه حوا علیها السلام پکښ داخل ده - او عبد الله ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه دا آیت دَ فمن اتبع نه قرآن والا ته هم شامل دے - ځکه چه هُدَایَ کښ ټول رسولان او کتابونه داخل دی - فرمائیلی یے دی چه چا قرآن اولوستلو او تابعداری یے اوکړه دَ هغے نو هیڅ به شی دَ ګمراهئ نه په دنیا کښ او دَ بدبختئ نه په آخرت کښ -

س ۱۲۴ ، س ۱۲۵ :- په دے آیتونو کښ تخویف دے او دَ ذِکرِی نه مراد کتاب الله

لِمَ حَشَرْتَنِيْ اَعْمٰى وَقَدْ كُنْتُ بَصِيْرًا ﴿۱۲۵﴾

ولے راپورته کړه تا ما لره ړوند او حال دا چه زه وم لیدونکے۔

قَالَ كَذٰلِكَ اَتَتْكَ اٰيٰتُنَا فَنَسِيْتَهَا ۚ وَكَذٰلِكَ

اوبه وائی الله تعالٰی دغسے راغلی وُو تاته آیاتونه زمونږ نو هیر کړه تا هغے لره او دا رنګ به

الْيَوْمَ تُنْسٰى ﴿۱۲۶﴾ وَكَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ اَسْرَفَ

نن ته هیر کړے شے۔ او دغسے سزا ورکوو مونږ هغه چا ته چه د حد نه تیر شوی

وَلَمْ يُؤْمِنْ بِاٰيٰتِ رَبِّهٖ ۭ وَلَعَذَابُ

(په شرک کولو سره) او ایمان ئے نه دے راوړے په آیاتونو د رب خپل، او خامخا عذاب

الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى ﴿۱۲۷﴾ اَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ

د آخرت ډیر سخت دے او همیشه دے۔ آیا پس نه ده ښکاره شوے دوی ته

او دین حق او سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے۔ لکه دیته اشاره کړیده تفسیر القرطبی۔ او د تنګ ژوند نه مراد د دنیا ژوند دے یا عذاب د قبر دے۔ او دا روایت کړے شوے دے د ابوسعید خدری او عبدالله ابن مسعود او ابو هریره رضی الله عنهم نه۔ او په لفظ د معیشة کښ اشاره ده چه سامان د خوراک څښاک او مزے د دنیا به وے لیکن زړه به ئے تنګ وی په پریشانئ او غمونو سره او قبر به ئے تنګ وی۔ او د ړوند نه مراد بے دلیله سړے دے۔ او د بَصِيْر نه مراد خاوند د دلیل دے په خپل ګمان سره یعنی اګر چه په دنیا کښ باطل دلیلونه ئے پیش کول لیکن په ورځ د قیامت هغه هم نشی پیش کولے لکه چه ذکر شوی دی سورة قصص ۶۶ کښ او سورة اسراء ۷۲ کښ۔ او یا مراد د ړوند نه حقیقتًا ړوند دے لکه سورة اسراء ۹۷ کښ لیکن دا ړوند والے به یو خاص حالت کښ وی نه به وی همیشه لکه سورة قٓ ۲۲ کښ۔

۱۲۶:- په دے آیت کښ ذکر کړیدے سبب د تیر شوی عذاب۔ او مراد د نسیان نه ترک دے (پریخودل قصدًا)۔ او تُنْسٰى نه مراد پریخودل په عذاب همیشه کښ پشان د نسیًا منسیًا۔

۱۲۷:- په دے آیت کښ ذکر د تعمیم د عذاب دے هر مشرک ته څکه چه

كَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ

چه څومره هلاک کړي دي موږ مخکښې د دے نه د پیړو نه

يَمْشُوْنَ فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

چه ګرځي دوي په کورونو د هغوي کښې يقيناً په دیکښې

لَاٰيٰتٍ لِّاُولِي النُّهٰى ﴿١٢٨﴾ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ

ع ٧ / ١٣ / ١٦

خامخا نخې دي عقلونو والو لره - او که نه وے فیصله

سَبَقَتْ مِنْ رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَّاَجَلٌ

چه وړاندے ده ستا د رب د طرف نه خامخا وو به عذاب لازم او که نه وے نیټه

مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ

مقرر - پس صبر کوه په هغه باندے چه دوي يې وائي

مراد د اسراف نه شرک کول دی - وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَشَدُّ وَاَبْقٰى نه مراد دا دے چه عذاب د آخرت ډير سخت دے په نسبت د عذاب د دنيا او د عذاب د قبر نه او هميشه باقي دے ځکه چه عذاب د دنيا او د قبر هميشه نه وي -

١٢٨ :- په دے آيت کښې تخويف دنيوي دے سره د زجر نه - يهد نه مراد هدايت د عقل دے چه دوي د عقل نه کار نه اخلي چه مخکني قومونه په څه سبب سره هلاک شوي دي -

١٢٩ :- په دیکښې هم تخويف دنيوي دے - او مراد د کلمے نه مهلت ورکول دي د عذاب چه په تقدير کښې يې ليکلي وي يا دا فيصله ده چه بغير د الزام د حجت نه عذاب نه ورکوي - لَكَانَ ضمير اهلاک (عذاب) ته راجع دے چه مخکښې آيت کښې ذکر دے - وَاَجَلٌ مُّسَمًّى دا عطف دے په کلمه باندے - لِزَامًا مراد د دیته واقع کيدل د عذاب دي -

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ

او تسبیح وایه سره د حمد د رب ستا نه مخکښ د ختلو د نمر نه

وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا ۚ وَمِنْ اٰنَآئِ الَّيْلِ فَسَبِّحْ

او مخکښ د پټیدلو د هغې نه او د وختونو د شپې نه نو تسبیح وایه

وَاَطْرَافَ النَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرْضٰى ﴿١٣٠﴾ وَلَا تَمُدَّنَّ

او د غاړو د ورځې نه د دې د پاره چه ته خوشحاله شې. او مه اوږدوه

عَيْنَيْكَ اِلٰى مَا مَتَّعْنَا بِهٖٓ اَزْوَاجًا مِّنْهُمْ

سترګې خپلې هغې سامان د دنیا ته چه ورکړې دی مونږ مالداران ته د دوی نه

زَهْرَةَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ لِنَفْتِنَهُمْ فِيْهِ ؕ وَرِزْقُ

د پاره د ډول د ژوند دنیوی، د پاره د دې چه ازمیښت اوکړو مونږ د دوی په هغې کښ او روزی

رَبِّكَ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى ﴿١٣١﴾ وَاْمُرْ اَهْلَكَ

د رب ستا غوره ده او همیشه ده. او حکم کوه خپلو تابعدارو ته

ف ۱۳۰:- په دې آیت کښ تشجیع ده په صبر کولو سره او په بیان د توحید سره.
وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ د دې نه مراد عقیده د توحید ده په زړه کښ او ذکر د تسبیح او د حمد دے په ژبې سره او عمل د تسبیح او د حمد دے چه هغه مونځ کول دی. او په دې آیت کښ پنځه اوقات د مونځونو ذکر کړے شویدی. ځکه چه د نمر ختلو نه وړاندې مونځ د فجر دے او د پټیدلو د نمر نه وړاندې مونځ د ماز یګر دے او د اوقاتو د شپې نه مراد مونځ د ماښام او د ماسختن دے او د اطراف النهار نه مراد مونځ د ماسپخین دے ځکه چه وخت د ماسپخین آخری طرف د اول نصف دے. او اول طرف د آخری نصف دے نو دے په دوو طرفونو کښ شو. او مراد د جمع نه دوه دی.
لَعَلَّكَ تَرْضٰى، دا دلیل دے چه عمل کول په دے آیت باندې سبب د خوشحالو دے. او په دے آیت کښ د دعوت کوونکی د پاره درے آداب ذکر شول
ف ۱۳۱:- په دے آیت کښ تزهید فی الدنیا دے او دا څلورم آدب دے مراد

بِالصَّلٰوةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ

دَ مونځ کولو او کلک شه په هغې باندې، نه کړو موږ تا له ذمه وار دَ روزۍ،

نَحْنُ نَرْزُقُكَ ۗ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى ﴿۱۳۲﴾

موږ تا له روزي درکوؤ، او آخري خوشحالي دَ پاره دَ تقوٰی والا ده۔

وَقَالُوْا لَوْلَا يَاْتِيْنَا بِاٰيَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ۗ اَوَلَمْ

او دوی وائي ولې نه راوړي دے موږ ته نخه دَ طرف دَ رب دَ هغه نه آیا نه دے

تَاْتِهِمْ بَيِّنَةُ مَا فِى الصُّحُفِ الْاُوْلٰى ﴿۱۳۳﴾

راغلې دوی ته صفا بیان دَ هغې چه په صحیفو مخکنو کښې وؤ۔

دا دے چه دَ دنیا دارو مالونو ته پسخیدل سبب دَ غفلت دے دَ مانځه نه۔
اَزْوَاجًا هغه مالداران چه یو بل ته په مالدارئ کښې نزدے وی او مشابه وی
په دنیا پرستئ کښې۔
وَرِزْقُ رَبِّكَ، مراد دَ دینه رزق حلال دنیاوی دے۔ او اَبْقٰى معنیٰ دا
چه دَ هغې برکات به همیشه وی یا مراد دَ دینه رزق دَ جنت دے۔
۱۳۲:۔ په دیکښې ذکر دَ پنځم ادب دے۔ او دَ اهل نه مراد ټول تابعداردی.
وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا، نه مراد دا دے چه موږ تا ته ذمه وار دَ
رزق نه یُو کرځولے چه په سبب دَ هغې سره غفلت راځی دَ مونځ کولو نه۔
وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوٰى، په دیکښې اشاره ده چه په دے پنځو آدابو باندے عمل
کول تقوٰی ده۔ لِلتَّقْوٰى لام اجلیه دے یا مراد دَ دینه لاهلِ التقوٰی دے۔
اَلْعَاقِبَةُ، په لغت کښې مطلق آخری حالت ته وئیلے شی لیکن په عرف
کښې په معنیٰ دَ خائسته آخری حالت سره دے۔
۱۳۳:۔ په دے آیت کښې زجر دے منکرینو ته یعنی هر کله چه په دے سورت کښې بیان شوه
معجزه دَ موسیٰ علیه السلام نو مشرکانو مطالبه اوکړه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه
چه موږ له هغه معجزات راوړه کوم چه موسیٰ علیه السلام راوړے وؤ نو دَ هغې جواب
ورکړے شو۔ حاصل دَ جواب دا دے چه قرآن کریم دَ مخکنو کتابونو الهیو خلاصه ده۔
نو دا معجزه دَ ټولو معجزاتو نه کامله ده لکه په سورة عنکبوت ۵۱ کښې ذکر دی۔ او په دے

وَلَوْ اَنَّآ اَهْلَكْنٰهُمْ بِعَذَابٍ مِّنْ قَبْلِهٖ لَقَالُوْا

او كه چيرے هلاك كړے وے مونږ دا خلق په عذاب سره مخكښ د راتلو د رسول نه خامخا دوى ويلے وو

رَبَّنَا لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ

اے ربه زمونږ ولے تا نه رالیږلو مونږ ته رسول پس چه تابعداري كړے وے مونږ د آيتونو ستا

مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ وَنَخْزٰى ﴿١٣٤﴾ قُلْ كُلٌّ

مخكښ د ذليل كيدلو او رسوا كيدلو نه ۔ ته اووايه هر يو

مُّتَرَبِّصٌ فَتَرَبَّصُوْا ۚ فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ اَصْحٰبُ

انتظار كوونكے دے نو تاسو هم انتظار كوئ زر دے چه تاسو به خبر شئ چه څوك دى خاوندان

الصِّرَاطِ السَّوِيِّ وَمَنِ اهْتَدٰى ﴿١٣٥﴾

د لارے برابر او څوك دى هدايت والا ۔

ع ٨ / ٧ / ١٤

آيت كښ اشاره ده چه د قرآن په نوم بيّنة دے او دا رنګ معلوم شو چه قرآن خلاف د مخكنو كتابونو نه دے.

١٣٤ ۔ په دے آيت كښ جواب دے د يو سوال ۔ سوال دا وو چه دا خلق د

مخكښ نه مشركان وو نو په دوى باندے عذاب ولے نه راتلو؟ حاصل د

جواب دا دے كه د رسول د رالیږلو نه مخكښ عذاب راليږلے شوے وے نو

دوى به عذر اوبهانه پيش كولے ۔ ليكن الله تعالىٰ د چا عذر په ځان باندے

نه پريږدى لكه سورة النساء ١٦٥ او سورة قصص آيت ٤٧ كښ چه څنګه

ذكر دى ۔ نو په دے آيا تونو كښ ذكر كړے شوے حكمت د ارسال الرسل او

انزال د كتب الهيه. مِنْ قَبْلِ اَنْ نَّذِلَّ دا دليل دے چه سبب د ذلت

او د رسوائي د كتاب الله نه خلاف كول دے ۔ وَنَخْزٰى كښ اشاره عذاب د دنيا

او آخرت ته ۔

١٣٥ ۔ په دے آيت كښ تخويف دنيوى دے يعنى هركله چه رسول را اوليږلے شو او بيا

هم تاسو انكار كوئ نو اوس د عذاب انتظار اوكړئ ۔ او په آيت كښ اشاره ده د خبرے

ته چه د عذاب د دُنيا نه بچ كيدونكى هغه خلق دى چه لارے ئے صحيح وى يعنى

لار د قرآن او د حديث او مقصد ئے صحيح لا رے ته رسيدل وى يعنى توحيد

او سنت ۔ الصِّرَاطِ السَّوِيِّ ۔ اشاره ده صحت د لارے ته او مَنِ اهْتَدٰى اشاره د صحت د مقصد ته ۔

سورة الانبیاء مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ | ایاتها ۱۱۲ رکوعاتها ۷

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړم په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِیْ غَفْلَةٍ

دیر نزدے راغے خلقو ته حساب د هغوی او دوی په غفلت کښې دی

مُّعْرِضُوْنَ ① مَا یَاْتِیْهِمْ مِّنْ ذِکْرٍ مِّنْ

مخ گرځوونکی دی۔ نه راځی دوی ته څه یاداشت د طرف د

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

ربط د دے د سورة طٰهٰ سره دا دے۔ هغه سورت کښې تذکیر او تشجیع وه په ذکر د موسیٰ علیه السلام نو په دے سورت کښې تذکیر دے په واقعاتو د نورو انبیاء علیهم السلام سره۔ دا رنګ په هغه سورت کښې د قیامت هیبتونه ذکر شول نو دلته د هغے نزدیکت ذکر کوی۔

دعویٰ :۔ د دے سورت تذکیر د غافلینو په شپږ وجو سره۔ او ماخذ د دعویٰ ۱ دے۔ اوله وجه :۔ ذکر د اولس انبیاء علیهم السلام تفصیلاً چه دوی محتاج وو او عاجزی کوونکی وو الله تعالیٰ ته او اجمالاً په ۲۵ کښې۔

دویمه وجه :۔ رد د څلورو قسمونو د شرک او رد په عقیده د اتخاذ الولد باندے او شفاعت قهریه باندے په اولس آیاتونو کښې۔

دریمه وجه :۔ عقلی دلیلونه شپږ د پاره د تذکیر۔

څلورمه وجه :۔ یوولس زجرونه منکرینو ته۔

پنځمه وجه :۔ ذکر د تعبیراتو د غفلت اته او لفظ د ذکر هم اته کرته

شپږمه وجه :۔ اسماء حسنیٰ اته۔

خلاصه د سورت :۔ په دیکښې پنځه بابونه دی اول باب تر ۱۵ پورے دے۔ په دیکښې تخویف دے سره د زجر ته په ذکر د شپږو مرتبو د غافلینو. غفلت، اعراض، لعب، لهو القلب، النجویٰ، ظلم او شپږ طعنونه د دوی په رسول باندے۔ بشریت، سحر، اضغاث احلام، افتراء، شعر، طلب د معجزے۔ او اعلان د نبی صلی الله علیه وسلم په رد د شرک فی العلم په ۴ کښې او جواب د آخری طعن په ۶ کښې۔ او د اول طعن په

رَّبِّهِمْ مُّحْدَثٍ اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ

رب د دوی نه نوے مګر غوږ ورته کیدی او حال دا چه دوی

يَلْعَبُوْنَ ۝۲ لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۗ وَاَسَرُّوا

لوبے کوی۔ مشغوله دی زړونه د دوی او پټے

النَّجْوَى ۖ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ هَلْ هٰذَآ

جرګے اوکړلے هغه چا چه ظلم ئے کړیدے چه نه دے دا

اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۚ اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ وَاَنْتُمْ

مګر بشر دے ستاسو پشان آیا قبلوئ تاسو جادو او حال دا چه تاسو

تُبْصِرُوْنَ ۝۳ قٰلَ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ

پوهیږئ۔ ویلے دی رسول چه رب زما خبر دے په هره وینا

سه ۸ سه ۹ کښ او ترغیب قرآن ته سه۱ کښ او تخویف دنیوی د سه۱۱ نه تر سه۱۵ پورے۔

سه۱:۔ هرکله چه د سورة طٰهٰ په آخرکښ د انتظار د عذاب ذکر وو نو دے آیت کښ د هغے نزدیوالے بیانوی سره د زجر نه په غفلت او اعراض سره۔ اِقْتَرَبَ لفظ دلالت کوی په ډیر نزدیکت باندے نزدے کَدلے وجے نه دے چه کوم شے راتلونکے وی نو نزدے وی۔ او بله وجه دا ده چه د دُنیا راتلونکے عمر کم دے په نسبت د تیرشوی او مراد د غفلت نه بے پرواهی ده یعنی د آخرت د پاره تیاری نه کوی۔

سه۲:۔ دا هم زجر دے په لعب کولو سره په وخت د بیان د قرآن کښ۔ ذکر مُّحْدَثٍ عقیدة د سلف صالحینو او تمام اهلِ سنت دا ده چه قرآنکریم مخلوق نه دے نو حادث نه دے او دلته محدث نه مراد دا چه په نازلیدلو کښ نوے دے، یا دا چه د نبی صلی الله علیه وسلم په بیانولو کښ نوے دے یا دا چه د منکرینو په زعم کښ نوے دے۔ یَلْعَبُوْنَ نه مراد دا دے چه مشغوله وی په دنیا سره یا مشغول شی په اعتراضونو کولو سره په قرآن باندے۔

سه۳:۔ دا هم زجر دے په لهو د قلوبو یعنی مشغوله دی زړونه د دوی په دروغو قصو د شرک بیا زجر دے په پټو جرګو کولو د نبی په مخالفت کښ

فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ السَّمِيْعُ
كه په آسمان كښ وي او كه په زمكه كښ وي او هغه هر څه آوري
الْعَلِيْمُ ④ بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍۭ
او په هر څه پوهه دے. بلكه دوي وائي دا ګډ وډ خوبونه دي
بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚ فَلْيَاْتِنَا
بلكه دا ځان نه ئے جوړ كړي دے بلكه دے شاعر دے نو موږله دې راوړي
بِاٰيَةٍ كَمَآ اُرْسِلَ الْاَوَّلُوْنَ ⑤ مَآ اٰمَنَتْ
يو نخه لكه چه ليږلي شوي وو مخكښ رسولان. ايمان نه دے راوړے

او دا ظلم دے. دا شپږ مرتبے دي دَ غافليتو او س ذكر كوي شپږ طعنونه دَ هغوي په رسول پاندے. اول طعن په رسول پاندے په بشريت سره دَ هغوي كافرانو شريكه وينا ده په بارهٔ دَ هر يو نبي كښ او دويم طعن ئے په سحر سره اوكړو. اَفَتَاْتُوْنَ السِّحْرَ، مراد دَ ايتان نه تابعداري كول دي. وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ، په دے كښ اشارهٔ ده چه كافرانو هم سحر بدګڼړلو.

سے : په دے كښ رد دَ شرك في العلم دے يعنې هر كله چه دوي پټے جرګے كولے او نبي صلى الله عليه وسلم دوي له دَ هغے خبر وركړو نو وهم راغے چه نبي په غيب پوهيږي نو جواب اوشو چه نبي صلى الله عليه وسلم دا صفت دَ الله تعالىٰ دَ پاره خاص كړي دے. او دا رنګ نبي خو صرف دَ خپل رب صفت كوي په طريقه دَ توحيد في العلم سره نو په دے كښ دليل دے دَ هغه دَ رسالت ځكه چه ساحران او كاهنان دَ علم دَ غيب ځان له دعوي كوي او دا نبي نسبت دَ علم غيب الله تعالىٰ ته كوي.

ڡے : دا دريم طعن دے چه قرآن ته ئے ګډ وډ خوبونه ويلي دي. او اَضْغَاثُ، بے تعبيره او دروغ خوبونو ته ويلي كيږي بيا دَ حيرانتيا دَ وجے انتقال ئے اوكړو څلورم طعن ته چه دا افتراء ده بيا بل طعن ته چه دے شاعر دے او آخري طعن مطالبه دَ معجزاتو په شان دَ تير شوؤ انبياؤ عليهم السلام.

قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ

مخکښې د دوی نه هیڅ یو کلی والو چه مونږ هلاک کړی دی آیا نو دوی به

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا

ایمان راوړی- او نه دی لیږلی مونږ ستا مخکښې مګر

رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ فَسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ

نارینه چه وحی کوله مونږ هغوی ته نو تپوس اوکړئ د علم والو نه

اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۷﴾ وَمَا جَعَلْنٰهُمْ

که چرے تاسو نه پوهیږئ - او نه وو پیدا کړی مونږ دوی داسے

سك:- دا جواب دے د آخری طعن یعنی مطالبه د آیت حاصل دا چه مخکنو قومونو ته د غسے معجزات راغلی وو کوم چه دوی یې غواړی هغوی ایمان نه وو راوړے لکه فرعونیان چه په سورة طٰه کښې ذکر شو نو دوی خو په ضد او عناد کښې د هغوی نه زیات دی نو دوی به کله ایمان راوړی- دا جواب یې د دے وجے نه مخکښې راوړو چه د دوی دا سوال څه نه څه په دلیل بانده بناء وو چه رسولان خو مونږ منو لیکن دا رسول دِ د هغوی پشان معجزه راوړی او نور طعنونه خو صرف په ضد او په جهل بانده بناء دی د هغے جواب ته حاجت نشته ماسوا د اعتراض اول نه د هغے جواب تفصیلی دے د دے وجے نه هغه یې روستو ذکر کړو-

اَهْلَكْنٰهَا ، صفت دے د قرية یعنی قریه د مکن بیتو چه مستحق د عذاب وو-

سك:- دا جواب دے د اول طعن په باره د بشریت د نبی کښې- مطلب دا چه تیر شوی رسولان ټول نارینه وو- او رِجَالًا په وصف د ملائکو کښې نه راځی - نو معلومه شوه چه بشر وو- او اَهْلِ الذِّكْرِ، عام دے یهود او نصارٰی کښې چه د الله تعالٰی د کتابونو صحیح عالم وی او تحریف نه کوی - او قرآن او حدیث والا عالمان، یعنی انکار

مهٔ کوئ دَ بشریت دَ رسول نه بلکه عالمانو دَ کتاب وسنت له راشئ چه تاسو ته ثابت کړی په دلیلونو سره چه بشر رسول کیدے شی۔

الذِّکْر نه مراد وحی ده هغه عالمان چه په وحی باندے علم او عمل لری او په هغې باندے استدلال کوی۔ او تفسیر قرطبی کښ ئے راوړے دی چه په تواتر سره ثابت ده چه رسولان ټول بشر وو۔ دا سے آیت په سورة نحل کښ هم تیر شوے دے۔

فائده ۱:- اعلام الموقعین عن رب العالمین دَ علامه ابن القیم الجوزیه کتاب په صفحه ۱۵۹ اوجلد دوئیم کښ سوال ذکر دے۔ چه دَ دے آیت نه تقلید معلومیږی او بیا ئے جواب کړے دے دَ هغې (عربی عبارت)۔۔۔۔! معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ بدی ذکر کړیدی دهغه چا چا اعراض کوی دَ ما انزل الله (قرآن کریم او صحیح حدیث) نه او تقلید دَ مشرانو کوی نو دا تقلید په اتفاق دَ امت سره مذموم او حرام دے او هغه شخص چه کوشش کوی په اتباع دَ ما انزل الله کښ لیکن بعضے دَ هغې نه دَ ده علم او نه رسی نو دے دَ هغه چا خبره او منی چه دَ ده نه علم کښ زیات وی نو دا تقلید محمود دے۔ حاصل دا دے چه اهل الذکر عالمانو دَ قرآن او دَ حدیثو ته وائی یو شخص چه یو عالم لره دَ قرآن او سنت عالم گنړی او دَ ده سره علم دَ قرآن او سنت بالکل نه وی یا په یو مسئله کښ نه وی او دے دَ دغه عالم نه مسئله اوتپوسی نو ده حقیقتًا دَ قرآن او سنت تابع اونه کړله۔ لیکن پدے کتاب کښ هم او شاه ولی الله په عقد الجید کتاب کښ هم لیکلے دی که دے سړی ته په راتلونکی وخت کښ دَ قرآن او حدیث نه صحیح نص معلوم شو او دَ هغه قول نه خلاف وؤ نو هغه قول په پریږدی او قرآن او حدیث باندے په عمل کوی او که دا سے ئے او نکړل نو معلومه شوه چه دے شخص تقلید مذموم او حرام کړیدے۔

هاں دَ دے آیت نه دَ تقلید شخصی په اثبات باندے دلیل نیول صحیح نه دی ځکه دَ تقلید شخصی معنیٰ دا ده چه یو شخص (عالم معین) پسے دَ تقلید کولو التزام او کړی که دَ نورو علماؤ

جَسَدًا لَّا يَأْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوْا

جوسي چه نه يئ خوړلو خوراک او نه وو

خٰلِدِيْنَ ﴿٨﴾ ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ

دوی هميشه - بيا پوره کړه مونږ دَ هغوی سره وعده

فَاَنْجَيْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِيْنَ ﴿٩﴾

پس بچ کړل مونږ هغوی لره او هغه چالره چه مونږ غوښتلو او هلاک کړل مونږ دَ حد تيرو تونکی خلق.

اقوال دَ قرآن او سنت سره زيات موافق وی يا دَ دغه شخص قول دَ قرآن او سنت نه مخالف معلوم شی نو بيا هم دے دَ دغه شخص قول باندے عمل پريخودلو ته تيار نه وی - او پس اسے تقليد باندے امام ابن قيم په اعلام الموقعين کتاب کښ په تفصيل سره رد کړے دے.

ف٨ :- په دے آيت کښ دَ تير شوی جواب دليل دے يعنی رسولان بشر وو- ځکه چه هغوی دَ خوراک نه مستغنی (بے حاجته) نه وو او دارنګ دَ فنا او دَ مرګ نه هم بچ نه وو- او دا صفتونه دَ دوی دَ پاره هيڅ عيب نه دے او دَ رسالت سره منافات نه لری.

ف٩ :- په دے آيت کښ اشاره ده تخويف دنيوی ته دَ پاره دَ منکرينو په اهلاک دَ منکرينو تير شوو- او لفظ دَ مُسْرِفِيْنَ کښ اشاره ده چه په دغه خلقو کښ دغه مخکښ شپږ مرتبے دَ غفلت موجود وے- او بشارت دنيويه دے په نجات او نصرت دَ انبياؤ او دَ تابعدارو دَ هغوی سره- او دا وعده په سورة يونس ١٠٣ کښ او سورة الصافات ١٧١، ١٧٢، ١٧٣ کښ ذکر ده- په دے کښ اشاره ده چه دغه رسولان په نجات خپل او په هلاکت دَ دشمنانو کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو-

لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ

بقینًا موږ نازل کړی دے تاسو ته کتاب په هغې کښې یادداشت ستاسو دے

أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٠﴾ وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ

نو ولے د عقل نه کار نه اخلئ - او ډیر هلاک کړی دی موږ کلی

كَانَتْ ظَالِمَةً وَأَنْشَأْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا

چه وؤ ظلم کوونکی او پیدا کړه موږ روستو د هغوی نه قوم

آخَرِينَ ﴿١١﴾ فَلَمَّا أَحَسُّوا بَأْسَنَا إِذَا هُمْ

نور - پس هر کله چه اولیدو هغوی عذاب زموږ نو دغه وخت دوی

مِنْهَا يَرْكُضُونَ ﴿١٢﴾ لَا تَرْكُضُوا وَارْجِعُوا

د هغې نه منډې وهلے - (او ئیلے شو) منډے مه وهئ او واپس شئ

سلا :- په یکښې جواب د هغه طعنو دے چه د قرآن په باره کښې تیر شوی آیاتونو کښې ذکر شوی دی په بیان د صداقت د قرآن سره چه دا ذکر دے او الله تعالیٰ نازل کړی دے - او ذکر نه مراد بیان د احکامو د شرعے او وعظ او نصیحت دے - او په دے باندے عمل کول سبب د شرافت دے نو ځکه بعض مفسرینو د ذِکر معنیٰ په شرافت سره کړیده - او د حسن بصری نه نقل دے چه ذکر په معنیٰ د دین سره دے (ابن جریر) -

سلا :- د دینه تر آیت سلا پورے تخویف دنیوی دے د پاره د هغه چا چه اعراض کوی د دے ذکر نه - او په یکښې خاص واقعه مراد نه ده بلکه تیر شوی قومونه چه تکذیب ئے کړے وؤ د انبیاؤ هغه ټول مراد دی -
قَصَمْ په لغت کښې ماتولو ته وائی دلته مراد هلاکول دی - ظَالِمَةً دا سبب د عذاب دے ظلم د هغوی شرک کفر او تکذیب د رسولانو او په هغوی باندے طعنونه کول وؤ -

سلا :- فَلَمَّآ فاء د تفصیل د قَصَمْنَا د پاره ده - أَحَسُّوا ئے ځکه ذکر کړو که د احساس د عذاب نه مخکښې ئے توبه کړے وے نو قبوله شوے به وه - ځکه چه احساس په معنیٰ د یقین د عذاب دے - رَکض اصل لغت

إِلَىٰ مَآ أُتْرِفْتُمْ فِيهِ وَمَسَٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ

هغو مالونو ته چه بې کچه مست کړے شوی ئې په هغې کښې او کورونو خپلو ته دَ دې دپاره چه تاسو نه

تُسْـَٔلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا

سوال او کړے شي۔ دوی اوئیل هلاکت تباهي ده زمونږ. یقیناً وُو مونږ

ظَٰلِمِينَ ﴿١٤﴾ فَمَا زَالَت تِّلْكَ دَعْوَىٰهُمْ

ظالمان۔ پس همیشه وے دغه چغے دَ دوی

حَتَّىٰ جَعَلْنَٰهُمْ حَصِيدًا خَٰمِدِينَ ﴿١٥﴾

ترد دے چه اوکرځول مونږ دوی دَل دول مړه شوی۔

کښې پوند ه خوځول په زمکه باندے او په تیزئ سره کیخودلو ته وائی مراد ترینه منډه وهل او تختیدل دی۔

۱۳:۔ دا قول دَ ملائکو دَ طرف نه دے مَآ أُتْرِفْتُمْ نه مراد ساز وسامان او نعمتونه دی چه دَ هغې دَ وجے نه ئې دَ حدود والٰهیه نه تجاوز کوو۔
لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُونَ، دا په طریقه دَ استهزا سره دے یعني چه ستاسو نه تپوس او کړیشی چه ولے تیخته کوئ او ولے ایمان نهٔ راوړئ او ولے په تاسو باندے عذاب راغے (دا دے ټولو معانیو ته شامل دے.)

۱۴:۔ په دے آیت کښې دا اقرار او پښیمانتیا ده په ظلم او په ګناهونو باندے په داسے وخت کښې چه فائده نه ورکوی۔

۱۵:۔ په دے آیت کښې مراد دا دے چه په دے اقرار باندے دَ دوی نه عذاب نه دے دفع کړے شوے۔
حَصِيدًا، هغه فصل ته وئیلے کیږی چه لو کړے شی او ټکړے شی۔
خَٰمِدِينَ، خمود په اصل کښې دَ اور مړکیدل دی په دے کښې اشاره ده چه دَ دوی غرور تکبر او غصه دَ اور پشان وه خو لکه چه اور مړ شی دغسے دَ دوی زور شور او غصه هم مړه شوه۔

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْاَرْضَ وَمَا

او نه دي پیدا کړي موږ آسمان او زمکه او هغه چه

بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ﴿۱۶﴾ لَوْ اَرَدْنَا اَنْ نَّتَّخِذَ

دَدے په مینځ کښ دي لوبے کوونکي ـ که چرے غوښتلے موږ چه او نیسو

لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّا ۖ اِنْ كُنَّا

مشغله خامخا نیولے به وے موږ هغه دَ خپلے خوا نه که چرے داکار

فٰعِلِيْنَ ﴿۱۷﴾ بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى

موږ کولے ـ بلکه ورکَن اردُو موږ حق لره په

۱۶ ـ خلاصه ؛ دَ دے آیت نه ۳۰ پورے دویم باب دے ـ په دے کښ دوه مختصر عقلی دلیلونه دی دَ پاره دَ تذکیر ۱۶ ۱۹ کښ او دوه نقلی دلیلونه دی دَ پاره دَ تذکیر ـ یو دَ ملائکو نه او دویم دَ تمام انبیاؤ نه اجمالاً ۱۹ ، ۲۰ ، ۲۲ ، ۲۵ کښ او څلور زجرونه دی ۱۷ ۱۸ ۲۱ ۲۴ ۲۶ ۲۷ ۲۸ ۲۹ کښ ـ

تفسیر په ۱۶ کښ دلیل عقلی دے یعنی آسمانونه او زمکه عبث او بے فائدے نه دی پیدا کړے شوی بلکه پیدا کړے شوے دی دَ پاره دَ دلالت په وجود دَ الله تعالیٰ او په توحید باندے او دا رنګ صٓ ۲۷ کښ دی او سورهٔ دخان ۳۸ ، ۳۹ کښ دی ـ او دا سے عقیده په صفت دَ اولوالالباب کښ ذکر ده په سورة النسآء کښ ـ

۱۷ ـ : په دے آیت کښ یوه توجیه داده چه مراد دَ لَهْوًا نه عبث دے چه مشغولول کوی یعنی که موږ اراده کولے چه آسمانونه او زمکه هم صرف دَ خپل مشغلا دَ پاره پیدا کولے نو ما به دَ ځان سره ساتلے او تاسو ته به هم دَ دے دلیلونه نه ښکاره کولے ـ او دا توجیه دَ آیت تیر شوی او راتلونکی سره مناسبت او ربط لری او مِنْ لَّدُنَّا په معنیٰ دَ عِنْدَنَا دے ـ

دویمه توجیه داده که موږ ولد نیولے نو دَ هغه ځانه به هم ولد جوړ

الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ط

باطل باندے نو زخمی کړی دماغ د هغه پس دغه وخت هغه روان شی

وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُونَ ⑱ وَلَهُ مَنْ

او ستاسو د پاره تباهی ده د وجے د هغه خبرو چه وائی تاسو (په باره د الله تعالیٰ کښ) او خاص د

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ط وَمَنْ عِنْدَهُ

الله تعالیٰ په اختیار کښ دے هغه څه چه په آسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی او هغه څوک چه هغه ته نزدے دی

لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ⑲

لويى نه کوی د بندګئ د هغه نه او نه ستړے کیږی۔

يُسَبِّحُونَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ ⑳

پاکی وائی د الله تعالیٰ شپه او ورځ نه سستی ښکاره کوی۔

کړلے وے چه زما سره دی او پخپله خوښه په رم نیولے ستاسو خوښے ته به رم نه پریخودلے۔ اِنْ كُنَّا، اِنْ په معنیٰ د نفی دے یعنی نه یو مونږ کوونکی د دا کار کوونکی یا اِنْ شرطیه دے او جزاء ئے د مخکښ په قرینے سره پټه ده یعنی که چرے مونږ دا کار کولے نو جنت جهنم جزاء سزا وغیره به رم نه پیدا کولے یله معنیٰ دا ده یعنی که چرے مونږ کولے نو ستاسو خوښے ته رم نه پریخودله۔

۱۸:۔ دا اضراب دے د مخکښ نه یعنی لهو نه ده بلکه دا دلیلونه د حق د اثبات او د باطل د رد د پاره دی حق قرآن دے او باطل دروغ د هغوی او الله تعالیٰ ته د عبث او د ولد نسبت کول دی۔ او حق حجت او دلیل دے او باطل شبهات د متکرینو دی۔

مِمَّا تَصِفُونَ نه مراد نسبت د ولد او د لهوے دے الله تعالیٰ ته۔

۱۹:۔ په دے آیت کښ دویم مختصر عقلی دلیل دے او ذکر د عجز د ملائکو دے د پاره د دلیل نقلی او نفی د الوهیت او ولایت د ملائکو نه۔ وَمَنْ عِنْدَهُ مراد د دے نه ملائک دی۔

۲۰:۔ دا هم بیان د حال د عبودیت د ملائکو دے۔ او کعب الاحبار نه

أَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ

آیا نیولی دی دوی معبودان دَ زمکے والو نه چه هغوی

يُنْشِرُوْنَ ﴿۲۱﴾ لَوْ كَانَ فِيْهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ

ژوندی کول کولے شی۔ که چرے وے په زمکه آسمانو کښ معبودان برحق بغیر سوا د الله تعالیٰ

لَفَسَدَتَا فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ

خامخا خراب شوے به وو انتظام دَ دے دواړو نو پاک دے الله تعالیٰ چه مالک دَ عرش دے

عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۲۲﴾ لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ

دَ هغه څه نه چه دوی یے بیانوی۔ تپوس نشی کیدے دَ الله تعالیٰ نه دَ هغه کار چه هغه کوی

نقل دی چه دوام دَ تسبیح دَ ملائیکو داسے دے لکه چه انسان ساه اخلی، نه په هغے ستړے کیږی او نه پرے دَ نور کار نه مشغولیږی۔ پریخودلو دَ یو کار دَ پاره دَ درے سببونو نه یو سبب وی اول استکبار دویم ستړے کیدل دریم ناراستی او سستی کول او په ملائیکو کښ دا درے واړه اوصاف نشته۔

سلا:- دا زجر دے په شرکاؤ جوړولو دَ زمکے والو نه یعنی بُتان، اولیاء مړی یا ژوندی۔

یُنْشِرُوْنَ دَ نشور نه دے په معنی دَ ژوندی کولو اول ځل یا دوباره ژوندی کول لکه سورة الفرقان ۳ کښ دی۔

سلا:- په دیکښ رد دے په اتخاذ دَ آلِهو باندے چه مخکښ آیت کښ تیر شو او په دیکښ دوه توجیه دی۔ اول توجیه بناء ده په دے خبره باندے چه مراد دَ آلِهه نه مستقل قدرت او اختیار او تصرف والا دی او فساد نه مراد نیشت والے دے یا دَ انتظام بربادی ده۔ نو معنیٰ دا شوه چه په زمکه او آسمانونو کښ مستقل تصرف کوونکی ډیر وے نو زمکه او آسمانونه به نه وو۔ یا انتظام به یے برباد شوے وو۔ او وجه دا ده چه ایجاد دَ دے به یا دَ دواړو په قدرت مستقله سره وی یا دَ یو تن په قدرت سره۔ اول خو ځکه باطل دے

وَهُمْ يُسْـَٔلُونَ ﴿٢٣﴾ أَمِ اتَّخَذُوا مِن

او دوی مخلوق ته تپوس کیدے شي - آیا نیولي دي دوی سوا د

دُونِهِ آلِهَةً ط قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ ج

الله تعالی نه حقدار د بند ګئ، ته او وایه راوړئ پوخ دلیل خپل ،

چه دوه مستقل قدرتونه دوه مستقل علتونه شو او په یو شي (معلول) باندے دوه علتونه نشي جمع کیدے - او که ډیر په قدرت سره موجود شي نو بیل به عبث شي او ترجیح بلا مرجح به راشي - او دا د الوهیت سره منافي دي- دا رنګ وئیلے کیدے شي چه آلِهه کنړشي نو عالَم به غیرممکن شي ځکه چه تمانع (یو بل منع کول په زور سره) به ممکنه نشي او تمانع سره الوهیت باطلیږي- او ډیر دے ملازمه په سورة مومنون ۹۱ کښ ده - ډیر دے ته معلومه شوه چه دا دلیل د اثبات د توحید دپاره قطعي او یقیني دے - او قول د تفتازاني په شرح عقائد کښ بے مناسبه دے چه هغه وائي چه دا اقناعي او ظني دلیل دے. تفسیر روح المعاني او نورو اهل علموهم پدے باندے رد کړے دے - دویم توجیه بناء ده په دے خبره چه مراد د آلِهو نه هغه آلِهه دي چه مشرکانو الله تعالی سره شریک جوړول لکه په سورة اسراء ۴۲ کښ دي.

او د هغوی آلِهه خو عاجز دي او عاجز خو د زمکے او آسمانونو نظام نشي سمبالولے نو معنی دا شوه چه د دے مشرکانو دا آلِهه (چه ضعیف او کمزورے دي) که د زمکے او آسمانونو یعني د دنیا تدبیر کوونکي شي لکه چه اوس هم مشرکان قطبان او غوثان د دنیا تدبیر کوونکي ګنړي- نو دا انتظام به خراب شوے ځکه چه هغوی کمزوري دي-

فَسُبْحٰنَ ، دا نتیجه ده د دلیل مخکني- رَبِّ الْعَرْشِ، پدے کښ اشاره ده چه الله تعالی نظام چلوونکے دے او دا نظام ئے یل چا ته سپارلے نه دے - يَصِفُوْنَ ولد او شریک

۲۳ :- دا بل دلیل د توحید دے چه آلِهه د دے مشرکانو د الله تعالی نه سوا عاجز دي او الله تعالی سره قدرت مستقله دے-

لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ ، اعتراض نشي کیدے د هغه په هیڅ کار باندے

هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ

دا (ردَ شرک) وعظ زما دَ ملګرو دَے او وعظ دَ هغه چا دے چه زما نه مخکښ دی،

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۙ الْحَقَّ فَهُمْ

بلکه ډیر دَ دے خلقو نه پوهیږی په حق باندے نو دوی

مُّعْرِضُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ

مخ ګرځوی۔ او نه دے لیږلے مونږ مخکښ ستا نه

مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا نُوْحِيْۤ اِلَيْهِ اَنَّهٗ

هیڅ رسول مګر وحی کوله مونږ هغه ته یقینًا

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّاۤ اَنَا فَاعْبُدُوْنِ ﴿۲۵﴾ وَقَالُوا

چه نشته حقدار دَ بندګئ سوا زما نه نو پس بندګی خاص ما لره کوئ۔ او دوی وائی

اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ ؕ

نیولے دے رحمٰن ذات اولاد پاک دے هغه

ځکه چه دَ هغه په هر کار کښ حکمت دے او حساب ورسره هم نشی کیدلے وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ، لکه چه سورة اعراف ۱۸ کښ دی۔

۲۴:- هر کله چه مخکښ دلیل په توحید باندے ذکر شو نو اوس زجر دے چه په اتخاذ دَ آلهه باندے دوی لره دلیل نشته۔

هٰذَا ذِكْرُ آه، نه مراد دا دے چه دا مسئله دَ توحید او رد دَ شرک دَ ټولو پیغمبرانو او دَ کتابونو الهیو مسئله ده۔

لَا يَعْلَمُوْنَ الْحَقَّ، حق توحید دے او قرآن دے۔ او دا دلیل دے چه جهل سبب دَ اعراض دے۔

۲۵:- دا تائید دے دَ تیر شوی آیت چه ذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ دے یعنی په مسئله دَ توحید باندے ټولو انبیاء علیهم السلام رالیږلے شوے دی او دا دلیل نقلی اجمالی یا اجماعی دے دَ ټولو انبیاؤ نه او دا سے په سورة نحل ۳۶ او سورة زخرف ۴۵ کښ هم دی۔

بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُونَ ﴿۲۶﴾ لَا يَسْبِقُونَهُ

بلکه دوی (محتاج) بندګان دی عزت ورکړې شوي دي. نه وړاندې کیږي د الله تعالی نه

بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ ﴿۲۷﴾

په وینا کښې او دوی د هغه په حکم سره عمل کوي.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

خبر دې الله تعالی په هغه حالاتو چه وړاندې د دوی دي او هغه چه روستو د دوی دي

وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ وَهُم

او سفارش نشي کولې مګر صرف هغه چا لره چه غوره کړې وي او دوی

مِّنْ خَشْيَتِهِ مُشْفِقُونَ ﴿۲۸﴾ وَمَن يَقُلْ

د وجې د یرې د الله تعالی نه ډیره کوونکي دي د هغه سره با هیبت زده کړې او چا چه اُووئیل

ف۲۶:- په یکښې زجر دې په نسبت کولو د ولد الله تعالی ته او آیت عام دې هغه ټولو مشرکانو ته چه الله تعالی ته د ولد حقیقي یا حکمي نسبت کوي او رد دې په مشرکینو باندې او ولد نه مراد لور ده حکمي معنی دا ده چه الله تعالی ورله اختیار او تصرف ورکړې وي چه په هغې وجه دوی د بعضې حاجتونو پوره کولو ذمه واران دي. او د رد د پاره د دغه صالحینو بندګانو اته صفات د عجزیې ذکر کړې دي. په دې آیت کښې دوه صفتونه دي. اول صفت عباد عاجزي کوونکي دي او محتاج دي. دویم صفت مُكْرَمُونَ کرامت او عزت والا دي په تیز د الله تعالی یعنی کرامت کښې الله تعالی ته محتاج دي.

ف۲۷:- په دې آیت کښې دوه صفتونه دي یعنی په وینا کولو کښې د الله تعالی نه خلاف نه کوي. ځکه چه سبقت په وینا کښې کنایه ده په عرف کښې د مخالفت کولو نه. او د الله تعالی د امر موافق عمل کوي.

ف۲۸:- پدې آیت کښې د دوی درې صفات ذکر کوي یعنی الله تعالی د دوی په ټولو حالتونو عالم دې. مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ کښې راتلونکي حالات او مَا خَلْفَهُمْ کښې تیر شوي حالات مراد دي یا مخه او شا

مِنْهُمْ اِنِّیْٓ اِلٰہٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ

دَ دوی نه چه زهٔ هم دَ الوهیت څه صفت لرم سِوا دَ الله تعالیٰ نه نو دغه کس له به

نَجْزِیْهِ جَهَنَّمَ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِی

سزا ورکوو مونږ جهنم ، دغسے سزا ورکوو مونږ

الظّٰلِمِیْنَ ﴿۲۹﴾ اَوَلَمْ یَرَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا ع ۲ ۱۹ ۲

ظالمانو ته . آیا نه گوری کافران

اَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا

چه آسمانونه او زمکه دواړه بند وو

فَفَتَقْنٰهُمَا ؕ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ

نو پرانستل مونږ دواړه او پیدا کړی دی مونږ دَ اوبو نه هر

مراد ده اواشاره ده ټولو زمانو او ټولو طرفونو ته - که په دوی کښ صفت دَ قدرت او اختیار مستقله موجود وے نو الله تعالیٰ ته به معلوم وے او دا رنګ دوی شفاعت دَ مشرکینو دَ پاره نشی کولے نو رد دے په مشرکانو باندے چه دَ دوی نه شفاعت کولو امید ونه مه لرئ -

اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰی مراد دَ دینه مؤمن مؤحد دے چه الله تعالیٰ غوره کړی دے په رضا خپلے سره لکه سورة طٰهٰ ۱۰۹ کښ تیر شوی دی - او دوی ډیره کوونکی دی -

خشیت ، ویره کول سره دَ تعظیم نه او اشفاق دَ ویرے دَ وجے نه زړهٔ نرمیدل دی -

۲۹ :- په یکښ ذکر دے دَ اتم صفت چه دوی لره حق نشته چه دعوی دَ الوهیت اوکړی - تفسیر قرطبی کښ لیکلی دی اګرچه معصوم دی لیکن په عبادت سره مکلف دی نو دا رد دے په هغه چا باندے چه وائی چه بعضے بزرګان په بزرګئ کښ داسے حد ته اورسی چه هغوی لره جائز دی چه " انا الحق یا سبحانی ما اعظم شانی " وائی یا دَ الوهیت دَ یو صفت دعوی کوی دا ټول کفر او ظلم دے ځکه چه الله تعالیٰ په دے آیت کښ هیڅوک دَ دے نه

شَيۡءٍ حَيٍّ ؕ اَفَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ ۝۳۰ وَجَعَلۡنَا

ځيز ژوندے ، آيا نو دوی ايمان نه راوړی - او جوړ کړيدی مونږ

مستثنٰی کړی ته دی چه هغوی لره دعوٰی دَ صفت دَ الوهيت جائز وی -

اِنِّيۡۤ اِلٰهٌ ، لفظ الله تعالٰی ئې نه دے وئيلے بلکه اله هر صفت دَ الوهيت ته شامل دے برابره خبره ده که دا دعوٰی په طريقه دَ شرکت سره وی او که په حلول او اتحاد سره وی -

۳۰ خلاصه :- دَ دے آيت نه دريم باب دے تر ۴۸ پورے - په ديکښ تذکير دے په څلورو عقلی دليلونو سره بيا تسلی ده رسول ته سرۀ دَ پنځم زجر نه ۳۳ ۳۵ کښ بيا شپږم زجر دے په ۳۶ کښ بيا اووم زجر دے په ۳۷ کښ بيا اتم زجر دے په ۳۸ کښ بيا تخويف اخروی ۳۹ ۴۰ کښ او تسلی رسول ته ۴۱ کښ بيا نهم زجر دے ۴۲ کښ او رد دے په شرک باندے په ۴۳ کښ بيا لسم زجر دے ۴۴ کښ او تسلی ده رسول ته ۴۵ کښ او تخويف اخروی دے په ۴۶ ۴۷ کښ -

تفسير :- په دے آيت ۳۰ کښ دريم عقلی دليل دے -

رَتۡقًا فَفَتَقۡنٰهُمَا ، يو تفسير دا دے چه ټول آسمانونه يو جسم وو - او ټولے زمکے يو جسم وے نو دوی ئې دَ يو بل نه جدا جدا کړل او دَ هر يو نه ئې اووه اووه جوړ کړل - دويم تفسير دا دے چه آسمان بند وو يعنی باران ترينه نه وريدلو او زمکه بنده وه يعنی بوټی ترينه نه راوتل نو الله تعالٰی دَ آسمان دَ طرف نه بارانونه راووروَل او په هغے سره ئې دَ زمکے نه بوټی راوټوکول -

وَجَعَلۡنَا مِنَ الۡمَآءِ دَ دے يو معنٰی دا ده چه هر ژوندے ځيز ئې دَ اوبو نه پيدا کړے دے - دويمه معنٰی دا ده چه ژوندون دَ هر ژوندی مخلوق ئې په اوبو سره ساتلے دے - دريمه معنٰی دا ده چه هر ژوندے شے ئې دَ اوبو دَ نطفے نه پيدا کړے دے - په اول دَ دواړه معانے سره - تازګی دَ زمکے او دَ بوټو ته هم عام دے -

فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ ص

په زمکه کښې کلک غرونه چه کړی ونه ړوی او نه خوځی په دوی پانډے

وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ

او جوړ کړی دی موږ په هغې کښې فراخې لارے دَ دے دَ پاره چه دوی

يَهْتَدُونَ ﴿۳۱﴾ وَجَعَلْنَا السَّمَاءَ سَقْفًا

مقصد ته اورسی۔ او جوړ کړے دے موږ آسمان چت

مَحْفُوظًا ۚ وَهُمْ عَنْ آيَاتِهَا مُعْرِضُونَ ﴿۳۲﴾

ساتلے شوے او دوی دَ نخو دَ هغې نه مخ اړوونکی دی۔

۳۱ :۔ دا څلورم عقلی دلیل دے۔ تَمِيدَ دَ میدن نه دے او میدن په معنیٰ دَ کږیدو گردش سره دے۔ او فِجَاجًا کشاده ځایونو ته وائی په غرونو کښې دَ رے کندے کله دَ تلو راتلو پکښې لارِ دی او کله نه وی نو دَ دے وجے نه سُبُلًا ورپسے ذکر کړو۔ او فِيهَا ضمیر زمکے او غرونو هر یو ته راجع کیدیشی ځکه چه زمکه کښې هم فراخے لارے دی او غرونو کښې هم فراخے لارے دی۔ دویمه معنیٰ غوره ده ځکه چه فج دَ غرونو په مینځ کښې فراخے لارے ته وئیلے کیږی۔ او يَهْتَدُونَ نه مراد دا چه خپل مقصد وتو ته اورسی او دویمه معنیٰ دا چه هدایت او مومی دَ دے دلیلونو په سبب سره۔ او دا سے په سورة نحل ۱۵ کښې هم ذکر دی په اول دلیل کښې دَ تربیت او رزق مواد ئے ذکر کړل آسمانونه زمکه او اوبه۔ او په دویم دلیل کښې دَ رزق دَ طلب دَ پاره ئے انعامات ذکر کړل چه په گرځیدلو سره زمکه ته خوزیږی او لارے پکښې دی۔

۳۲ :۔ دا پنځم دلیل عقلی دے او په دویمه جمله کښې زجر دے اعراض کوؤنکو ته۔ او دَ آسمان حفاظت په ډیرو طریقو سره دے دَ پریوتلو نه محفوظ دے لکه سورة حج ۶۵ او سورة فاطر ۴۱ کښې۔ او دَ شیاطینو نه محفوظ دی لکه سورة صافات ۷ او سورة حجر ۱۷ کښې دی۔

وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ

او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړے یې شپه او ورځ

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ فِیْ فَلَكٍ

او نمر او سپوږمۍ، دا ټول په ځائے دَ چاپیره ګرځیدلو کښې

یَّسْبَحُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ

لامبو وهي ۔ او نه دے ورکړے مونږ هیڅ بشر لره

قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ اَفَاۡئِنْ مِّتَّ فَهُمُ

ستا نه مخکښ همیشګیري، آیا نو که ته مړ شوے نو دوی به

او دَ شرک او دَ نورو ګناهونو نه محفوظ دی یعنی آسمانونو کښ ګناهونو والا نشته ۔ او ایَاتَ دَ آسمانونو نمر، سپوږمۍ، ستوري او دَ هغے انقلابات او شپه او ورځ دی او هم دا رنګ په سورة یوسف ۱۰۵ کښ دی ۔ او ورپسے آیت دَ هغے ذکر دے ۔

۳۳:۔ دا شپږم دلیل عقلي دے ۔ تیر شوي دلیلونه دَ مکانونو دَ قبیلے نه وُو او دا دلیل په زمانو او دَ هغے دَ اسبابو سره متعلق دے دا رنګ هغه علوي او سفلي دلیلونه وُو او دا دلیل وسطي دے ۔ خَلَقَ دَ کَیْل او نَهَارَ ئے مخکښ ذکر کړو چه معلومه شي چه دَ شپے او ورځے پیدائش دَ نمر کار نه دے نمر او سپوږمۍ صرف علامات دی ۔ كُلٌّ نه مراد نمر، سپوږمۍ او ستوري دی او دَ هغے په سبب سره شپه او ورځ ته هم نسبت کیدے شي ۔ امام قرطبي ذکر کړے دی چه فَلَكٍ نه مراد مدار دے (یعنی ځائے دَ ګرځیدلو چاپیره) او دا اوګوره افلاک دَ آسمانونو دَ لاندے دی یعنی دَ هر یو نمر، سپوږمۍ او ستورو دَ پاره دَ آسمانونو دَ لاندے جدا جدا دَ ګردش ځایونه دی ۔ او په کوم آیاتونو کښ چه ذکر کړے دی چه نمر، سپوږمۍ په آسمان کښ دی نو مراد ترینه طرف دَ آسمان دے ۔ یَسْبَحُوْنَ، سبح په اصل کښ په اوبو کښ لامبو وهلو ته وئیلے شي نو اشاره ده چه افلاک پشان دَ سمندر دے او نمر، سپوږمۍ

الْخٰلِدُوْنَ ﴿٣٤﴾ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ط

همیشه وی. هر ساه والا څکونکے دَ مرګ دے،

وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ط وَإِلَيْنَا

او از میښت کوؤ مونږ په تاسو پاندے په سختئ او په آرام سره د امتحان او خاص مونږ ته به

تُرْجَعُوْنَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَا رَاٰكَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْآ

تاسو راګرځولے شئ. او هر کله چه اووینی تا لره کافران

ستوری او دَ هغے په واسطه سره شپه او ورځ په هغے کښ دَ مهیا نو
پښتان لامبو وهی په آسانه طریقے سره رفتار کوی۔
۳۴:۔ ربط :۔ دَ مخکښ سره دا دے چه دَ آسمانونو زمکو وغیره انقلابات
په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دی نو دَ انسانانو مرګ او ژوند هم دَ
هغه په اختیار کښ دے۔
په دے آیت کښ رد دے په قول دَ مشرکانو باندے چه دا شاعر دے
مونږ دَ دهٔ دَ مرګ انتظار کوؤ لکه سورة طور ۳۰ کښ دی۔ حاصل
دَ جواب دا دے چه تاسو هم همیشه نشئ پاتے کیدلے نو ولے دَ دهٔ
مرګ ته خوشحالیږئ او دا رنګ په دے آیت کښ تسلی ده رسول الله
صلی الله علیه وسلّم ته که ته وفات شوے نو الله تعالیٰ به ستا دَ دین
حفاظت کوی لکه چه مخکښی انبیاء وفات شول نو الله تعالیٰ دَ هغوی
دَ دین حفاظت کړے دے۔ او خُلد نه مراد همیشه ژوند دے
چه مرګ پرے نه راځی نو سوال په باره دَ عیسیٰ علیه السلام کښ
نشی کیدلے ځکه چه هغه ژوندے دے لیکن پس دَ نزول دَ آسمان
ته به بیا مړ کیږی نو هغه لره خُلد نه دے ثابت شوے۔ او بعض
مفسرینو دَ خلد نه اوګد والے دَ ژوند اراده کړیدلے او عیسیٰ علیه
السلام دَ هغے نه خاص کړے شوے دے په بل دلیل سره۔
۳۵:۔ دا متعلق دے دَ تیر شوی آیت سره یعنی دَ مرګ نه هیڅ ساه
والا نشی بچ کیدلے دا سے سورة آل عمران ۱۸۵ کښ دی۔ نو آیت
انبیاؤ اولیاؤ ټولو ته شامل دے۔ او دَ مرګ نه وړاندے دَ خیر

إِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ إِلَّا هُزُوًا ؕ أَهٰذَا
نو نه نیسي تا لره مګر ټوقې (روانې) آیا دا

الَّذِيْ يَذْكُرُ اٰلِهَتَكُمْ ج وَهُمْ بِذِكْرِ
هغه سړے دے چه بدي وائي ستاسو د معبودانو اوحال دا چه دوي د یاداشت

الرَّحْمٰنِ هُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۶﴾ خُلِقَ الْإِنْسَانُ
د رحمان نه (په توحید سره) دوي انکار کوي - پیدا کړے شویدے انسان

مِنْ عَجَلٍ ؕ سَاُورِيْكُمْ اٰيٰتِيْ
د تادۍ نه ، زر دے چه او به ښائم تاسو ته نخے خپلې

اوشر د راتللو حکمت ئے بیان کړو چه خیر او شر سره ستاسو امتحان کوي چه شکر په خیر او صبر په شر باندے کوئ او که نه ؟ د شر نه مراد تکالیف مصیبتونه مرضونه وغیره دي او خیر نه مراد نعمتونه وسعت د رزق ، صحت د بدن مال ارځ او دا رنګ معصیت او طاعت حلال او حرام ، هدایت او ضلال ته هم شامل دے -

۳۶ :- په دے آیت کښ زجر دے د استهزاء په رسول پورے -او مراد د کَفَرُوْا نه عنادي کافران دي -

يَذْكُرُ ، نه مراد په عیب او نقصان سره یا دول دي، مراد تر ینه کنځل کول دي او دا د مشرکانو د طرف نه افتراء ده په رسول باندے لکه اوس زمانه کښ هم د توحید بیانونکو په باره کښ مشرکان وائي چه دوي اولیاؤ او بزرګانو ته کنځل کوي یعني بیان د توحید او د شرک د دوي په تیز باندے کنځل دي -

ذِكْرُ الرَّحْمٰنِ ، مراد د دے نه قرآن دے یا مسئله د توحید ده -
یعني ذکر د الله تعالیٰ په طریقه د توحید سره -او په لفظ رَحْمٰن کښ اشاره ده چه ټول نعمتونه د طرف د هغه نه دي او دوي د هغه ناشکري کوي -

فَلَا تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٣٧﴾ وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى

نو په تادئ ئې مه غواړئ - او دوی وائي چه کله به وی.

هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٣٨﴾ لَوْ يَعْلَمُ

دا وعده که تاسو رشتني يئ - که چرے خبر وے

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حِيْنَ لَا يَكُفُّوْنَ

کافران (په تفصيل) د هغه وخت چه نه به شي اړولے

عَنْ وُّجُوْهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُوْرِهِمْ

د مخونو خپلو نه اور او نه د شاګانو خپلو نه

وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٣٩﴾ بَلْ تَاْتِيْهِمْ

او نه به د دوی سره مدد کيدېشي - بلکه راځي به دوی ته

س٣٧:- په دے کښ زجر دے په استعجال (زر غوښتل) د عذاب سره. او مراد د خلق د عجل نه دا دے چه د انسان په طبيعت کښ عجلت پيدا کړے شوے دے لکه په سورة روم س٥٤ کښ دی بناء په يو تفسير سره او په سورة اسراء س١١ کښ دی. او دا رنګ حديث دے چه النساء خلقت من ضلع ايسر يعنی د زنانو په خلقت او طبيعت کښ کوږوالے دے پشان د کيڼړے پوښتئ چه نيغول ئې غواړے نو ماته به شی او يا به هميشه کږه وی.

اٰيٰتِيْ، مراد د ديته نمونے د عذاب دی او دليلونه د قدرت د الله تعالیٰ دی په انتقام اخستلو د منکريتو نه.

س٣٨:- په دے آيت کښ زجر دے او بيان دے د استعجال چه مخکښې آيت کښ تير شوے دے.

مَتٰى مراد په دے سره استبعاد او انکار کول دی د قيامت او عذابِهٔ.

س٣٩:- په دے آيت کښ الزامی جواب دے يعنی عذاب چه راشی نو بيچ کيدے تر ينه نشئ نو ولے ئې په تلوار سره غواړئ - او په ذکر د وجوه او ظهور کښ اشاره ده چه اور د جهنم به په دوی بانديے

بَغْتَةً فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ

ناګهانه تو حیران به کړی دوی لره بس طاقت به نه لری

رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنْظَرُوْنَ ﴿۴۰﴾ وَلَقَدِ

د واپس کولو د هغے او نه به دوی لره مهلت ورکیدیشی - او یقیناً

اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ

توقے کړے شوی دی په ډیرو رسولانو پورے ستا نه مخکښ

فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ سَخِرُوْا مِنْهُمْ

نو راګیر کړو هغه چالره چه مسخرے یے کولے د دوی نه

مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۱﴾ قُلْ ۳ ع ۱۱ ۳

هغه عذاب چه دوی ورپورے توقے کولے - ته اُوایه

د هر طرف نه احاطه کړے وی - او جزاء د لَوْ شرطیه محذوف ده یعنی لَمَا اسْتَعْجَلُوا الْعَذَابَ (نو عذاب به یے په تلوار سره نه غوختلے) -
وَلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ، یعنی د دوی معبودان (باطله) او د دوی ډلے د دوی سره هیڅ امداد نشی کولے او الله تعالیٰ خو ور سره امداد نه کوی -
ف۴۰ :- دا هم متعلق دے د مخکښ آیت سره چه دوی لره د عذاب د راتلو مقرر تاریخ او وخت نه دے معلوم بلکه ناګهانه به راځی -
تَاْتِيْهِمْ ، ضمیر قیامت ته راجع دے یا اور د جهنم ته -
فائده :- د عذاب سره مناسب نصرت دے د هغے د دفع کولو د پاره - او د راتلو د عذاب سره مناسب مهلت دے د هغے نه د بچ کیدلو د پاره - د دے وجے نه په اول آیت کښ يُنْصَرُوْنَ او په دویم آیت کښ يُنْظَرُوْنَ ذکر کړے شو -
ف۴۱ :- دے آیت کښ زجر دے په استهزاء په رسولانو پورے او تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته او دا سے په سورة انعام ۱۰ کښ هم تیر شوید ی او سورة رعد ۳۲ کښ په لږ فرق سره دے -

مَنۡ يَّكۡلَؤُكُمۡ بِالَّيۡلِ وَالنَّهَارِ مِنَ

څوک ستاسو ساتنه کوي دَ شپې او دَ ورځې دَ

الرَّحۡمٰنِ ؕ بَلۡ هُمۡ عَنۡ ذِكۡرِ رَبِّهِمۡ

رحمان دَ عذاب نه، بلکه دوی دَ یاداشت دَ رب خپل نه

مُّعۡرِضُوۡنَ ﴿۴۲﴾ اَمۡ لَهُمۡ اٰلِهَةٌ تَمۡنَعُهُمۡ

مخ اړونکي دي. آیا دوی لره معبودان شته چه او به ساتي دوی لره

مِّنۡ دُوۡنِنَا ؕ لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ نَصۡرَ

سوا زمونږ نه، وس نه لري دَ امداد

اَنۡفُسِهِمۡ وَلَا هُمۡ مِّنَّا يُصۡحَبُوۡنَ ﴿۴۳﴾

دَ ځانونو خپلو او نه دَ دوی سره زمونږ دَ طرف نه ملګرتیا کیدیشي.

ف۴۲:- دَ دے آیت په آخره جمله کښ زجر دے په اعراض دَ توحید او دَ قرآن نه سره دَ بیان دَ دینه چه دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه هیڅوک ساتونکے نشته.

مِنَ الرَّحۡمٰنِ، اوله معنیٰ داده دَ عذاب دَ رحمان نه یعنی مضاف پټ دے. دویمه معنیٰ داده چه مِنۡ کله په معنیٰ دَ بدل سره راځي لکه سورة زخرف ۶۰ کښ یعنی بدل دَ رحمان ذات نه. او دا معنیٰ ابن کثیر کړیده لیکن دَ بدل تفسیر ئے په غیر سره کړیدے

ف۴۳:- دا بیان دَ مَنۡ يَّكۡلَؤُكُمۡ دے. په طریقه دَ استفهام انکاري سره یعنی ستاسو آله ستاسو ساتنه کولے نشي. بیا رد دے په شرک باندے په نفي دَ شرک فی التصرف سره. نو دویمه جمله علت دے دَ پاره دَ اولے جملے او ضمیر دَ لَا يَسۡتَطِيۡعُوۡنَ او اَنۡفُسَهُمۡ راجع دے الهه ته او دویم هُمۡ ضمیر راجع دے مشرکینو یا الهه ته.

يُصۡحَبُوۡنَ، دَ دے دوه معانے دي اوله معنیٰ دا چه دوی لره زمونږ دَ عذاب نه پناه نشي ورکیدے. او ضمیر دَ هُمۡ راجع دے مشرکانو ته. دویمه معنیٰ داده چه دوی سره ملګرتیا (په مدد کولو سره)

بَلْ مَتَّعْنَا هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ حَتّٰى

بلکه فائده ے ورکړے دے دې مونږ دوی ته او مشرانو د دوی ته تر دې پورے

طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ط اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا

چه اوږده شول په دوی باندے عمرونه آیا دوی نه گوری چه زه راتلل کوو مونږ

نَاْتِى الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ط

وطن د دوی ته چه کموؤ هغې لره د غاړو د هغې نه،

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۴۴﴾ قُلْ اِنَّمَآ اُنْذِرُكُمْ

آیا پس دوی په زور آور شی - ته او وایه یقیناً ویره درکوم تاسو ته

بِالْوَحْىِ ز وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ الدُّعَآءَ

په وحی سره او نه آوری کوڼ بلنے لره

اِذَا مَا يُنْذَرُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَلَئِنْ مَّسَّتْهُمْ

کوم وخت چه دوی لره ویره ورکیدے شی - او که اورسی دوی ته

نشی کیدے - په اوله معنیٰ ضمیر راجع دے مشرکانو ته او په دویمه معنیٰ راجع دے الهه ته -

۴۴ :- په دے آیت کښ سبب د استهزاء او د انکار ذکر کوی یعنی سره د شرک کولو او انکار کولو د رسول نه دوی ته د دنیا ډیر نعمتونه ورکړے شوی دی او عمرونه ئے ډیر په شرک او د دنیا په مزو کښ تیر شول نو د غفلت د وجے نه په استهزاء د رسولانو کښ اخته شول - اَفَلَا يَرَوْنَ ، په دے کښ تخویف د منکرینو ته مراد دا دے چه الله تعالیٰ د دوی په ملک باندے نبی صلی الله علیه وسلم او اسلام ته غلبه او تسلط تدریجاً ورکوی یا د دوی په ملک باندے لږ لږ عذابونه راځی نو دوی به کله غالب شی - او دا سے په سورۃ رعد ۴۱ کښ دی او د دے آیت تفسیر په سوره احقاف ۲۷ کښ دے -

۴۵ :- په دے آیت کښ زجر دے - بِالْوَحْىِ ، نه مراد قرآن دے - وَلَا يَسْمَعُ الصُّمُّ ، دا جواب سوال دے هر کله چه قرآن وحی ده نو

نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ
څه ټکره دَ عذاب دَ رب ستا نه خامخا دوی وائی
يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٤٦﴾ وَنَضَعُ
هائے تباهي ده زموږه یقینًا موږ ظالمان وُو - اوکیږدو موږ
الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ
تلے انصاف والا په ورځ دَ قیامت کښ نو ظلم به نشي کیدے
نَفْسٌ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ
په هیڅ نفس باندې هیڅ قسم، اوکه چیرے وی (عمل) په قدار دَ دانے
مِّنْ خَرْدَلٍ اَتَيْنَا بِهَا ؕ وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ ﴿٤٧﴾
دَ اوړی را به اوړو هغے لره، او بوره یو موږ حساب کوونکی۔

په دوی باندے دلے اثر نه کوی جواب او شوچه دوی دَ قرآنکریم نه کانړه دی۔
۴۶:۔ په دے آیت کښ تخویف دنیوی دے سرهٔ دَ زجر نه۔ نَفْحَةٌ، لږ څیز ته وئیلے شی او یو حصّے ته هم وائی۔
یعنی په عذاب سره به دَ دوی کونړوالے لرے شی او بیا به آرمانونه کوی لیکن فائده به نه ورکوی لکه چه دَ دے سورت په ۱۲ کښ ذکر شول۔
۴۷:۔ په دیکښ تخویف اخروی دے په ذکر دَ موازینو په وزن دَ عملونو سره او حساب سرهٔ۔
اَلْمَوَازِيْنَ، دَ اهل علمو یو قول دا دے چه دَ هر یو نوع دَ عملونو به جدا جدا میزان وی دَ دے وجے نه ئے جمع ذکر کړے ده۔
دویم قول دا دے چه میزان یو دے لیکن په اعتبار دَ موزوناتو سره جمع ذکر کړیده او دَ مخکښ آیا تونو په قرینه سره معلومیږی چه وزن دَ اعمالو دَ کافرانو به هم کیږی۔

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ

او یقینًا ورکړے وو مونږ موسٰی او هارون ته فرقان

وَضِيَاءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٨﴾ الَّذِيْنَ

او ډیره رڼا او یاداشت د پاره د متقیانو ۔ هغه کسان

يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ

چه ویریږی د رب خپل نه په حال د نه لیدلو کښې او دوی د قیامت نه

مُشْفِقُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبٰرَكٌ

هیبت زده دی ۔ او دا یاداشت دے برکتونو والا

اَلْقِسْطَ. لفظ د ذوات حذف دے او دا صفت دے د موازین یا مفعول لهٗ دے ۔ یعنی لاجل القسط ر د پاره د انصاف قائم کولو

حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ، د عربو په عرف کښې دا په مثال د لږ والی کښې ذکر کیږی او دا رنګ سورة لقمان ۱۶ کښې هم ذکر دی او کله لفظ د ذرة په سورة النساء ۴۰ کښې ذکر دے۔

۴۸: خلاصه :- د دے آیت نه تر ۹۳ پورے څلورم باب دے په دے کښې ذکر د اوولس انبیاؤ دے تفصیلًا د پاره د تذکیر د غافلانو د توحید نه په ذکر د احتیاج د هغوی او عاجزی کول د هغوی الله تعالٰی ته او ذکر د حال د انبیاؤ اجمالًا په ۹۱ کښې بیا یوولسم زجر دے په ۹۳ کښې.

تفسیر :- په دے آیت کښې دلیل نقلی دے د موسٰی او هارون علیهما السلام نه او تفصیل ئے په سورة طٰهٰ کښې تیر شوے دے د دے وجے نه دلته ئے مختصر ذکر کړو ۔ د کتاب الٰهی کمال دا دے چه په هغے کښې دلیلونه د پاره د فرق د حق او باطل وی ۔ نو هغے ته فرقان وائی په هغے کښې ښکاره مسائل او احکام وی نو هغے ته ضیاء وائی او په هغے کښې مواعظ او امثال او واقعات وی د پاره د تثبیت د ایمان والو او هغے ته ذکر وائی او دا درے صفات په تورات کښې هم وو ۔

لِلْمُتَّقِيْنَ، تخصیص د دوی د وجے د انتفاع اخستلو نه دے ۔

۴۹ :- دا هغه صفات د متقیانو دی چه د هغے په وجه د الله تعالٰی د کتاب نه ذکر

أَنۡزَلۡنٰهُ ؕ اَفَاَنۡتُمۡ لَهٗ مُنۡكِرُوۡنَ ۝۵۰ وَلَقَدۡ

نازل کړے مونږ دے، آیا تاسو دا ناآشنا کنړئ - او یقیناً

اٰتَيۡنَاۤ اِبۡرٰهِيۡمَ رُشۡدَهٗ مِنۡ قَبۡلُ

ورکړے وه مونږ ابراهیم علیه السلام ته پوهه د دین د مخکښ نه

وَكُنَّا بِهٖ عٰلِمِيۡنَ ۝۵۱ اِذۡ قَالَ لِاَبِيۡهِ

او وو مونږ د ده په حال باندې پوهه لرونکی۔ کوم وخت چه اُوئیل یې پلار

حاصله وی۔ خَشْيَة، ویره د زړه ده سره د تعظیم د مخښی نه رځې د چا نه ویره کوی) او اشفاق، نرمی د زړه ده د وجې د ویرے او د محبت او خیر خواهئ نه چه د هغې اثر په اندامونو باندے ښکاره کیږی۔ بِالْغَیْبِ نه مراد دا دے چه د خلقو نه غائب او پټ وی نو ویره کوی د الله تعالیٰ نه او ښکاره کښ خو ضرور کوی۔ دویم مراد دا دے چه الله تعالیٰ یې لیدلے نه دے او حال دا چه د هغه نه ویره کوی۔

منہ۔ دا ترغیب دے قرآن کریم ته مطلب دا دے لکه څه رنګ چه تورات د ذکر د پاره نازل کړے شوے وو نو قرآن هم د ذکر د پاره نازل شوے دے نو ولے د دیته انکار کوئ۔

منہ۔ د دے آیت نه تر ۷۳ پورے دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه د پاره د تنکیر د غافلینو د توحید نه په بیان د مجاهدے کولو د ابراهیم علیه السلام په مقابله د مشرکینو کښ او صبر کول د هغه۔ د رُشْدَهٗ نه مراد نبوت دے او اٰتَيۡنَا کښ اشاره ده چه دے په حصول د رشد کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔ او مِنۡ قَبۡلُ نه مراد دا دے چه د موسیٰ او هارون علیهما السلام نه مخکښ۔ یا د رشد نه مراد ایمان او توحید دے او مِنۡ قَبۡلُ نه مراد مخکښ د بالغ کیدلو نه۔ او د دے نه معلوم شوه چه هغه قصے چه بعض مفسرینو لیکلے دی چه ابراهیم علیه السلام په غار کښ وو او بیا را اوتلو او رب یې نه پیژندلو نو کله په یې ستوری ته رب وئیلو او کله سپوږمئ او نمر ته نو دا ټول اسرائیلیات دی او د دے آیت نه خلاف دی۔

وَقَوْمِهٖ مَا هٰذِهِ التَّمَاثِيْلُ الَّتِيْٓ

او قوم خپل ته څه دليل دے دَ دے شکلونو (په عبادت کولو) بانديے

اَنْتُمْ لَهَا عٰكِفُوْنَ ﴿۵۲﴾ قَالُوْا وَجَدْنَآ

چه تاسو دے لره هميشه عبادت کوئ۔ دوی او وئيل موندلے دی موږ

اٰبَآءَنَا لَهَا عٰبِدِيْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ

مشران خپل دوی لره عبادت کوونکی۔ او وئيل ابراهيم يقيناً وئ

اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۵۴﴾

تاسو او مشران ستاسو په ګمراهئ ښکاره کښې۔

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ

دوی او وئيل آيا تا موږ ته حق راوړے دے او که ته يې

ف۵۲ :- په دے آيت کښې بيان دَ رشد دے چه هغه رد کول دی په شرک باندے اګرچه هغه په پلار کښې موجود وی۔ دَ مَا هٰذِهِ، نه مراد نيوس دَ دليل او دَ علت دَ عبادت کولو دَ هغوی دے يا مراد ترينه بيان دَ حقيقت دَ هغوی دے چه دا مصنوعات او مخلوقات دی حقدار دَ بندګئ نشی کيدلے۔ تَمَاثِيْلَ، جمع دَ تمثال ده هغه څيز ته وائی چه جوړ کړے شی مشابه دَ يو مخلوق سره او قوم دَ ابراهيم عليه السلام څه تماثيل دَ ستورو جوړ کړے وو او څه دَ نيکانو بندګانو۔ عٰكِفُوْنَ، عکوف په معنیٰ دَ لازم نيول دَ يو څيز دے او توجه کول هغه ته په طريقه دَ تعظيم او دَ بندګئ سره۔

ف۵۳ :- يعنی دوی په شرک کښې صرف تقليد کوو دَ مشرانو خپلو او هيڅ دليل ورسره نشته۔ او دا زوړ دليل دے دَ مشرکانو په هره زمانه کښې۔

ف۵۴ :- لفظ دَ اَنْتُمْ دليل دے چه په تقليد دَ باطل سره مقلد هم ګمراه شو نو دا سبب دَ نجات نه دے۔ ابن کثير وئيلی دی حاصل دا دے چه ستاسو دَ آباؤ نه هم دليل غواړو لکه چه ستاسو نه غواړو۔

مِنَ اللّٰعِبِیْنَ ﴿٥٥﴾ قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ
دَ ټوقو کوؤنکو نه - دهٔ اوئیل بلکه رب ستاسو رب
السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِیْ فَطَرَهُنَّ ز
دَ آسمانونو او دَ زمکے دے هغه ذات چه دا ئے دَادل نه پیدا کړی دی
وَاَنَا عَلٰی ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ﴿٥٦﴾
او زه پہ دے بانں ستاسو نه دَ خبر ورکوؤنکو نه یم -
وَتَاللّٰهِ لَاَكِیْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ بَعْدَ
او قسم په الله تعالیٰ خامخا چل جوړومه ستاسو معبودانو نه روستو دَ دینه
اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِیْنَ ﴿٥٧﴾ فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا
چه اوګرځئ تاسو شا کوؤنکی - پس کړل ئے هغه ټکړے ټکړے

٥٥ :- یعنی آیا ته په دلیل سره خبرے کوے او که خبرے عبث (بے دلیله) کوے - یعنی ته مونږ ته دلیل اوښایه-
٥٦ :- یعنی ما سره دلیل دے په توحید دَ الله تعالیٰ یو دا چه هغه مالک دَ آسمانونو او دَ زمکے دے - دویم دا چه خالق دَ دوی دے - او توحید دَ ربوبیت مستلزم دے توحید دَ الوهیت لره شرعًا او عقلًا - شَاهِدِیْنَ، نه مراد بیان کوؤنکے په دلیل سره -
٥٧ :- ابراهیم علیه السلام دَ دعوت دَ ذریے نه بعد انتقال اوکړو مجاهدے عملی ته دَ وجے دَ ډیر وثوق (اعتماد) نه په الله تعالیٰ بانں ے او دَ وجے دَ ډیر غیرت نه په دین بانں ے - او بل سبب دا هم کیدے شی چه قوم دَ ابراهیم علیه السلام دعوت ته هیڅ توجه نه کوله نو دا عمل ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه هغوی دَ دهٔ طرف ته توجه اوکړی نو دے به ئے په توحید بانں ے ښهٔ پوهه کړی - لکه روستو آیت کښں دَ اِلَیْهِ یَرْجِعُوْنَ، یوه توجیه دا ده - او دا قسم تَاللّٰهِ ابراهیم علیه السلام دَ ځان سره په پټه بانں ے وئیلے وؤ او بعض کسانو دَ هغوی اوریدلے وؤ-
مُدْبِرِیْنَ، نه مراد دا دے چه تاسو خپلے میلے ته لاړشئ - او دا دکاه

إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿۵۸﴾

بغیر دَ غټ دَ هغوی نه دَ دے دَ پاره چه دوی هغه ته رارجوع اوکړی۔

قَالُوا مَن فَعَلَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ

اوئیل دوی چا کړیدے دا کار زمونږ دَ معبودانو سره یقیناً دے

لَمِنَ الظَّالِمِينَ ﴿۵۹﴾ قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى

دَ ظالمانو نه دے۔ دوی اوئیل اوریدلے دی مونږ دَ یو ځوان نه

يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ ﴿۶۰﴾ قَالُوا

چه دَ دوی بدی ئې وئیله وئیلے کیږی شی هغه ته ابراهیم۔ اوئیل دوی

دَ معبودانو ښاسو خالی شی ځکه چه دوی خیل سالانه جشن یا عرس له تلل او ابراهیم علیه السلام تربیه پاتې شو په عذر دَ سقیم سره۔

۵۸:۔ دَ دے واقعے بعضے حصه په سورة صافات کښ ذکر شوے ده۔

کَبِیرًا، کښ اشاره ده چه دوی خپل معبودان په تفاوت سره جوړ کړیوؤ بعضے واړه او بعضے غټ یا دا چه بعضے ئې دَ وړو کارونو ذمه وار کنړل او بعضے ئې دَ غټو حاجتونو پوره کوؤنکی کنړل۔

لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ، یو معنیٰ دا چه دا کار ئې دَ دے دَ پاره اوکړو چه دوی دَ ابراهیم علیه السلام دین ته یا دَ هغه دعوت ته رجوع اوکړی او هغه ته غوږ کیږدی۔ بیا په دے دا متعلق دے دَ جعلهم سره۔

دویمه معنیٰ دا چه دا لوے ئې دَ دے وجے نه پریخودلو چه دوی دغه لوے ته رجوع اوکړی او دَ هغه نه تپوس اوکړی (نو دَ دوی جهل به ښه ښکاره شی او بیا پدے دا متعلق دے الا کبیرا سره۔)

۵۹:۔ دوی دَ خپلے عقیدے باطلے په وجه موحد ته ظالم اوئیل او تفتیش او بحث ئې شروع کړو دَ دے عمل کوؤنکی۔

۶۰:۔ دا جواب دَ هغه کسانو دے چه هغوی دَ ابراهیم علیه السلام نه قال لاکیدن اوریدلے وؤ۔ او يَذْكُرُهُمْ نه مراد هم دغه قسم دے په لاکیدن سره۔ یا دا جواب دَ ټولو دَ طرف نه دے چه ابراهیم

فَأْتُوْا بِهٖ عَلٰٓى اَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ
نو راولئ هغه لخاخ دَ سترګو دَ خلقو دَ پاره دَ دے چه دوی
يَشْهَدُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالُوْٓا ءَاَنْتَ فَعَلْتَ هٰذَا
ئے تماشه اوکړی - دوی اوئيل آيا تا کړے دے دا کار
بِاٰلِهَتِنَا يٰٓاِبْرٰهِيْمُ ﴿٦٢﴾ قَالَ بَلْ فَعَلَهٗ
زمونږ دَ معبودانو سره اے ابراهيمه - اوئيل هغه بلکه کړے دے
كَبِيْرُهُمْ هٰذَا فَسْـَٔلُوْهُمْ اِنْ كَانُوْا
لوے دَ دوی نه چه دا دے پس تپوس اوکړئ دَ دوی نه که
يَنْطِقُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوْٓا اِلٰٓى اَنْفُسِهِمْ
خبرے کولے شی - پس اوګرځيدل دوی دَ خپلو ځانونو ته (په سوچ کولو سره)

عليه السلام دَ دَے معبودانو عيبونه او نقصانونه ذکر کول نو معلومیږی چه دا کار په هغه کړے وی -

يَذْكُرُهُمْ نه مراد تنخل کول او عيبونه بيانول دی - او فَتًى، دليل دے چه ابراهيم عليه السلام دَ ځوانئ په عمر کښ وو يا دا چه دا کار دَ قوّت او زور والو دے -

٦١ :- يَشْهَدُوْنَ نه مراد شهادت دَ خلقو دے دَ پاره دَ اثبات دَ دے دعوے يعنی هغوی هم په خپل قانون کښ دَ دعوے دَ ثبوت دَ پاره ګواهی لازم ګنړله لکه چه شرعًا هم دا حکم دے - يا مراد دا دے چه دا خلق دَ دهٔ سزا ته حاضر شی او تماشه اوکړی چه عبرت واخلی او دا مقصد وو دَ ابراهيم عليه السلام لکه چه مخکښ ذکر شول -

٦٢ :- اول تپوس دَ هغه نه دَ دے وجے نه کوی که دے اقرار اوکړی نو شهادت ته به حاجت رانشی ځکه چه مدعیٰ عليه په اقرار سره نيولے کيږی -

٦٣ :- حديث دَ صحيحين او ترمذی کښ ذکر شويدی چه دا لفظ دَ ابراهيم عليه السلام دَ کذباتو (يعنی معاريض او توريه) نه دے - يعنی دوه معانے

فَقَالُوٓا إِنَّكُمْ أَنتُمُ الظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾

نو اوئیل دوی یقیناً	تاسو	ظالمان یئ ۔

لری یو معنیٰ ظاهری دَ مخاطبینو دَ فهم مطابق او بله معنیٰ دَ متکلم دَ مراد موافق او داسے کلام کذب (دروغ) نه وی ځکه دروغ ګناه ده او انبیاء علیهم السلام دَ ګناهونو نه پاک دی ۔ نو دَ کذب تعبیر په دے حدیث کښ دَ راوی دَ طرف نه دے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نه دے لکه چه دا قول امام رازی کړے دے او دے ته روایت بالمعنیٰ وئیلے کیږی ۔ یا دَ کذب اطلاق په اعتبار دَ ظاهر سره دے فقط، مجازًا نه په معنیٰ حقیقی سره ۔ دلیل په دے باندے قول دَ ابراهیم علیه السلام دے خپلے بی بی ته روستو دَ قول دَ هغه نه (انك اختی) اختی فی کتاب الله یا فی دین الله ۔ او په دے جمله کښ ګڼړ توجیهات دی. اوله توجیه چه فعل دَ کَبِیرُهُمْ معلق او مشروط کړے دے په نطق دَ نورو معبودانو سره او شرط ئے روستو ذکر کړے دے دَ پاره دَ توریے کولو او هغوی خو دَ نطق نه عاجز دی نو شرط موجود نه شو ۔ نو په دے کښ حجت دے دَ پاره دَ رد دَ شرک دَ هغوی او په ضمن دَ دے کښ اقرار دے په ځان باندے چه دا ما کړے دے ۔ دویمه توجیه دا ده چه بَلْ په معنیٰ دَ استفهام دے یعنی آیا دا کړے دے غټ ۔ نو هم ضمنًا اعتراف دے ۔ دریمه توجیه دا ده چه فاعل دَ فعله محذوف دے او دا حذف په غیر دَ قائم مقام نه جائز دے په نیز دَ کسائی باندے ۔ او دَ کَبِیرُهُمْ نه دَ سره جمله شروع ده ۔ څلورمه توجیه ۔ کَبِیر نه مراد دَ ابراهیم علیه السلام په نیز الله تعالیٰ دے او دا قوم هم قائل وو په کبریا دَ الله تعالیٰ باندے لکه چه شعرانی په الیواقیت والجواهر کښ ذکر کړے دی یعنی دا کار الله تعالیٰ کړے دے (یعنی نبی په امر دَ الله تعالیٰ سره کړے دے۔)

مسئله :. دَ دے نه مراد دا دے چه دوی دَ ځانونو سره سوچ او فکر شروع کړو په شان دَ هغه چا چه په بحث کښ دَ حجت نه عاجز شی او دَ خصم دلیل صحیح اوګنړی نو په ځان باندے ئے اقرار دَ ظلم اوکړو ځکه چه شرک ظلم دے ۔ یا دَ الظالمون نه مراد دا دے چه تاسو دا معبودان بغیر دَ څوکیدار نه پریخودلے وو څوک حفاظت کوونکے ئے نه وو دا ظلم دے ۔

ثُمَّ نُكِسُوا عَلٰى رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ
بیا اړوله شول په سرونو باندې (او وئیل ئې) یقیناً ته پوهیږې
مَا هٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ
چه دوی خبرې نشي کولے۔ اووئیل ابراهیم آیا پس بندګي کوئ تاسو
مِن دُونِ اللّٰهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا
سوا د الله تعالیٰ نه د هغه چا چه نفع نشي درکولے تاسو ته هیڅ او نه
يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن
نقصان دررسولے شي۔ بدګنړم زه تاسو او بندګي د هغه چا چه بندګي کوئ د هغوی
دُونِ اللّٰهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾ قَالُوا
سوا د الله تعالیٰ نه، آیا پس عقل نه لرئ. اووئیل دوی

او مشهوره جمله ده۔ من لا یرد عن رأسه الفأس۔ کیف یدفع عن عابدیه البأس۔
ترجمه:۔ څوک چه د ځان نه تبر نشي واپس کولے نو هغه به د خپلو عبادت کوونکو سختي څه رنګ دفع کړي۔

۶۵:۔ دا شیطاني تسلط دے او عدم توفیق د ایمان دے چه روستو د پوهې نه په ضد او عناد کښې اوودریدل۔ او په کوز سرونو روانیدل کنایه ده د ضد کولو نه یا د ملامتیا نه یا د حیرانتیا نه۔

۶۶:۔ هر کله چه دوی اقرار اوکړو چه دا معبودان خبرې نشي کولے نو ابراهیم علیه السلام په دوی باندے حجت او دلیل قائم کړو چه په نطق قدرت نه لري نو اختیار مند د نفعې او ضرر هم نشي کیدے نو حقدار د عبادت نشي کیدے۔

۶۷:۔ اُفٍّ، دا لفظ په اصل کښې استعمالیږي په وخت د لیدلو د ګنده څیزونو کښې نو بیا مستعملیږي په ګنده (باطلو) خبرو کښې یعنی د هغے نه په نفرت کولو او خفګان کولو او بیزارګیدلو کښې۔ او دلته مراد دادے چه بیزاریم زه ستاسو نه او د بندګئ د هغه معبودانو نه چه تاسو د هغوی بندګي کوئ سوا د الله تعالیٰ نه نو دا کلمه د براءت ده کنړل نه دی معبودانو نه لکه چه په سورة زخرف ۲۶ او سورة ممتحنه ۴ کښې دی۔

حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ

اوسیزئ دهٔ لره او بدل واخلئ دَ معبودانو خپلو که تاسو

فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾ قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِىْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا

څهٔ کار کوئ۔ اووئیل مونږ اے اُوره شه ته یخ او برابر حال والا

عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾ وَاَرَادُوْا بِهٖ كَيْدًا

په ابراهیم بانډے۔ او کوشش او کړو دوی دَ هغه دَ سیزلو

س۶۸:۔ هر کله چه دلیل دَ پیش کولو نه عاجز شول بیا په ضد بانډے شروع شول نو ابراهیم علیه السلام دَ قتل او دَ سوځولو مشوره ئے او کړله لکه سورة عنکبوت س۲۴ کښ دی۔ او آخری فیصله ئے دَ هغه دَ سوځولو او کړله او دیته دوی دَ خپلو معبودانو بدله اخستل وائی یعنی ابراهیم علیه السلام دَ دے معبودانو بے عزتی کړے ده نو مونږ دَ هغوی بدل اخلو۔ دا ډیره بے عقلی دَ مشرکانو ده چه څوک ناصر گنړی او بیا بخپله دَ هغه نصرت کوی او نصرت ته ئے محتاج گنړی۔

اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ، یعنی که څهٔ کار دَ ابراهیم سره کوئ نو صرف دا کار (سوځول) او کړئ۔

س۶۹:۔ حاصل دا چه دوی اُور بل کړو او دَ هغے دَ پاره به دوی خشاک او لرگی په ډیر محبت سره راوړل بلکه نن رونه به ئے کول که زمونږ فلانے حاجت پوره شی نو دَ ابراهیم دَ سوځولو دَ پاره به دومره مقدار لرگی راوړم لکه چه ابن کثیر لیکلے دی یعنی دا دوی دَ وجے دَ نصرت دَ خپلو آلهو لوے عبادت گنړلو۔ لیکن الله تعالیٰ هغه اُور ته خطاب او کړو او الله تعالیٰ خپل کلام هر څیز ته اورولے شی او دا دلیل دے چه دَ اسبابو تاثیر په اذن دَ الله تعالیٰ سره دے او په حدیث دَ صحیح بخاری کښ دی چه ابراهیم علیه السلام په هغه وخت کښ اووئیل حسبی الله ونعم الوکیل۔

وَسَلٰمًا ئے ځکه او فرمائیل چه دَ ډیر یخ کیدلو په وجه ابراهیم علیه السلام هلاک نشی۔

عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ئے ځکه او فرمائیل چه نورو خلقو بانډے یخ نشی۔ او

فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَخْسَرِيْنَ ﴿٧٠﴾ وَنَجَّيْنٰهُ

پس اوگرځولو موږ دوی لره تاوان والا ۔ او بچ کړو موږ دے

وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا

او لوط (او بیول موږ دوی) هغه ملک ته چه برکات ایخی دی موږ په هغې کښې

لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿٧١﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ ؕ

خلقو لره ۔ او او بخو موږ ده ته اسحق ،

مفسر آلوسی تفسیر روح المعانی کښې لیکلی دی ، حاصل ئې دا دے چه داخو معجزه وه دَ ابراهیم علیه السلام او که پس د امت کښې دَ بعضِ صالحینو خلقو دَ پاره دا سے حال پیښ اشی نو دا په دَ هغوی کرامت دی او څوک چه آواز کوی چه یا شیخ احمد یا رفاعی او اُور په لاس کښې اونیسی او نه سوځی نو دا شرک دے دا استدراج دے لکه چه دَ دجال نه په هم دَ دے په شان ډیر حالات ښکاره کیږی ۔ او بعضے فریب کړ په خپل لاس دا سے مواد اولګوی چه اُور پرے اثر نه کوی او خلقو ته وائی دا زما کرامت دے لیکن دا دهوکه ده ۔

نکته :- اَلْاَخْسَرِيْنَ ، پدے وجه سره ئې اوفرمائیل چه دوی مالونه خرچ کړل او وخت ئې هم خرچ کړو لیکن هغه ضائع شول او دا خسران او تاوان دے او سورةِ صافات ۹۸ کښې (الاسفلین) اوفرمائیل ځکه چه دوی تکبر کړے وؤ او لفظ دَ يُزَفُّوْنَ په هغې دلیل دے نو هر کله چه پره شول نو ذلیل او سپک شول ۔

نکته :- سورة عنکبوت ۲۶ کښې ذکر دی چه تاریخو کښې صرف لوط علیه السلام دَ ابراهیم علیه السلام سره دَ ایمان اعلان اوکړو ځکه دے آیت کښې دَ هغه نجات او هجرت ئې دَ ابراهیم علیه السلام سره ذکر کړلو او دَ مبارکے زمکے نه مراد دَ شام زمکه ده ځکه چه دَ هغې دنیوی برکات باغونه فصلونه میوے ډیرے مشهورے دی او دینی برکات پکښې کثرت دَ انبیاؤ علیهم السّلام دے او مقام دَ نزول دَ عیسٰی علیه السّلام دے ۔

وَيَعْقُوبَ نَافِلَةً ۖ وَكُلًّا جَعَلْنَا صَالِحِينَ ﴿٧٢﴾

او يعقوب زياتي او دا ټول ګرځولي وو موږ پوره نيکان.

وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا

او ګرځولي موږ دوی امامان (د دين) چه بيان يې کوو د دين زموږ.

وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ

او وحي کړې وه موږ دوی ته د کولو د نيکو کارونو او د پابندۍ کولو

الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ ۖ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ ﴿٧٣﴾

د مونځ او د ورکولو د زکوٰة، او وو دوی موږ لره عبادت کوونکي.

۷۲:- په دې آيتونو کښ دليل نقلي دے د اسحاق او يعقوب عليهم السلام نه، د هغوی عبديت او احتياج الله تعالیٰ ته زموږ د تن کير د پاره يې ذکر کړي دے.

نَافِلَةً، په اولاد کښ ولد الولد ته وائي يعنې زياتي دے په اولاد صلبي باندے.

جَعَلْنَا، يعنې دوی صالحيت کښ او په طاعت کولو کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی نو معلومه شوه چه طاعت او قدرت د بنده په طاعت باندے دا ټول مخلوق د الله تعالیٰ دے.

۷۳:- په دے آيت کښ د هغوی عبديت او الله تعالیٰ ته د هغې احتياج يې ذکر کړے دے. او دلته مراد د امامت نه نبوت دے او معلومه شوه چه د امام فريضه دعوت دے دين د الله تعالیٰ ته.

وَأَوْحَيْنَا، دا دليل دے چه امام وی او که نبي وی او که ولي وی ليکن هغه هم مکلف وی په بندګئ کولو او د الله تعالیٰ سره. په موافق د وحي سره. اَلْخَيْرَاتِ، ټول خصلتونه چه حُسن د هغې په وحي سره ثابت وی.

وَإِقَامَ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءَ الزَّكَاةِ، کښ تخصيص بعد التعميم دے د دير اهميت د وجے نه ځکه چه دا هم په فعل الخيرات کښ داخل دی.

عَابِدِينَ، کښ اشاره ده چه دوی د الله تعالیٰ د حکمونو امتثال کوؤ.

وَلُوْطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا وَّنَجَّيْنٰهُ

او یاد کړئ لوط ورکړے وو موږ هغه ته پیغمبري او پوهه د دین او بچ کړے وو موږ دهٔ لره

مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ

د هغه کلی والو نه چه هغوی کول پلیت کارونه

اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ۟ۙ ﴿٧٤﴾

یقینًا دوی وو قوم د بدئ نافرمان -

ع ٥/٥ وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۟ع ﴿٧٥﴾

او داخل کړو موږ دهٔ لره په خاص رحمت زموږ کښ یقینًا دے وو د ډیرو نیکانو نه -

وَنُوْحًا اِذْ نَادٰى مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ

(او یاد کړئ) نوح علیه السلام کله چه فریاد ئے کړے وو (رب ته) د دے نه مخکښ نو قبوله کړه موږ دعا د هغه

فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۟ۚ ﴿٧٦﴾

نو بچ کړو موږ دے او کورنئ د دهٔ د غم لوی نه -

عصیان او گناه ئے نه کوو- او په یکښ دعوے د سورت ته اشاره ده -

٧٤ :- په دے آیتونو کښ دلیل نقلی دے د لوط علیه السلام نه په احتیاج د هغه

الله تعالیٰ ته د پاره د تذکیر د توحید- حاصل دا چه لوط علیه السلام په نبوت او

علم او نجات او رحمت کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو- خَبٰٓئِثَ ، نه مراد د لاړیو

استعمال دے او میلمنو پورے مسخرے کول او په کانړو ویشتل سره د

شرک او کفر نه - قَوْمَ سَوْءٍ ، نه مراد داسے قوم دے چه د بدئ او د گناه په کارونو

کښ خاص وی- د نیک عمل کولو نه محروم وی- هر کله چه په اسے قوم کښ او سیدل هم

د مؤمنانو د پاره مصیبت دے نو د هغے نه نجات ورکول د الله تعالیٰ نعمت دے -

فٰسِقِيْنَ ، فسق د عقیدے او د عمل دواړو مراد دے -

٧٥ :- رَحْمَتِنَا نه مراد بچ کول د هغه عذاب نه دی کوم چه په هغه قوم باندے رالیږلے شوے وو او

سبب د نجات صالحیت کامله دے- او صٰلِحِيْنَ مقابل د سوء او د فاسقین دے -

٧٦ :- په دے آیتونو کښ دلیل نقلی دے د نوح علیه السلام په احتیاج

وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

او بدله واخستله موږ دهٔ لره د هغه قوم نه چه دروغژن يې ګڼړل

بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ

آياتونه زموږ، يقيناً دوی وو قوم د بدئ

فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۷۷﴾ وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ

نو غرق کړل موږ دوی ټول په يو ځای - او (ياد کړئ) داؤد او سليمان

اِذْ يَحْكُمٰنِ فِى الْحَرْثِ اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ

کله چه دوی فيصله کوله په باره د فصل کښ چه (د شپې) څرېدل ورته په هغې کښ

غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ﴿۷۸﴾

ګډې اوبزې د يو قوم، او موږ وو د هغوی په فيصله باندې خبر لرونکی۔

الی الله سره د پاره د تذکير د توحيد - او په دې آيت کښ تصريح ده چه نوح عليه السلام هم په حاجت او مصيبت کښ صرف الله تعالی ته فرياد پيش کړی دی - او نادای په هغه ځائے کښ استعماليږی چه نهايت عجز، ژړا او فرياد وی - او تفصيل د ندا د هغه په سورة قمر ۱۰ او سورة نوح کښ دی - اَهْلَهٗ، کښ اشاره ده چه مؤمنان په هغه وخت صرف د دهٔ کورنئ او اولاد وو - كَرْبٍ عَظِيْمٍ، نه مراد عذاب د غرق دی په لوی طوفان د اوبو کښ - يا تکذيب او تکليفونه د طرف د قوم نه -

۷۷ :- مراد د نصرت نه انتصار او انتقام اخستل دی ځکه چه هغه قوم د دهٔ ډېره بے عزتی کړې وه او ډېر ظلم يې کړی وو نو ځکه د بدل اخستلو ذکر يې اوکړو - قَوْمَ سَوْءٍ، بدی او خرابی د عقيدې ده دلته فاسقين نه دی وئيلی او قوم لوط سره ذکر کړی وو ځکه چه قوم لوط په ناکاره عملونو کښ هم اخته وو او قوم نوح داسې نه وو -

۷۸ :- په دې آيتونو کښ دليل نقلی د داؤد او سليمان عليهما السلام نه دے چه دوی په احکام تشريعيه کښ او معجزاتو کښ الله تعالی ته محتاج وو - معلومه شوه لکه چه مخلوق الله تعالی ته په امورِ تکوينيه کښ محتاج دی

ففهمنها سليمن ۚ وكلا اتينا حكما

پس پوهه ورکړه مونږ د دغه فيصلې سليمان ته او هر يو لره ورکړې وه مونږ پيغمبري

وعلما ۫ وسخرنا مع داود الجبال

او پوهه د دين او تابع کړي وو مونږ سره د داؤد غرونه

يسبحن والطير ۭ وكنا فعلين ﴿۷۹﴾

تسبيح يې ويله او مارغان هم او مونږ دا کار کوونکي وو۔

نو په احکام شرعيو کښ هم الله تعالىٰ ته محتاج دی۔ نَفَشَتْ نفش په معنىٰ د څرېدلو دے په شپه کښ بغير د راعي نه۔ کوم څاروي چه په فصل کښ د ورځ او څرېږي نو تاوان په څاروو والا باندے نشته (هر کله چه دا مالک د څاروو ورسره نه وي) او که د شپې او څرېږي نو تاوان په مالک د څاروو باندے شته اګرچه مالک ورسره نه وي او ابن جرير دا سے فيصله د قاضي شريح نه نقل کړېده۔

وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ، دليل دے چه الله تعالىٰ حاضر او ناظر دے۔ لِحُكْمِهِمْ، جمع په معنىٰ تثنيه سره ده يا پخپله معنىٰ سره ده ځکه چه مدعي او مدعا عليه پکښ داخل دي۔

سوے :- يعني داؤد عليه السلام اراده اوکړه چه مالک د فصل ته تو لے ګډے بېزے ورکړي ځکه دا ته معلومه شوه چه قيمت د هغے د فصل د قيمت سره برابر دے۔ او سليمان عليه السلام فيصله اوکړه چه مالک د فصل ته ګډے بېزے ورکړي چه هغه ترينه فائده اخلي تر هغه وخته پورے چه مالک د ګډو بېزو د فصل تربيت اوکړي تر دے پورے چه زوړ حالت ته اورسي او پس دے فيصله کښ د دواړو جانبو خير او فائده وه۔ او دا سليمان عليه السلام ته الله تعالىٰ اوخودله د پاره د دے چه د دهٔ فضيلت او علم پلار ته ښکاره شي نو هغه په خوشحاله شي ځکه چه پلار د اولاد په ترقئ سره خوشحالېږي۔

او داؤد عليه السلام خطا شوے نوؤ فيصله کښ ځکه چه هغه صرف اراده کړے وه فيصله يې لا نه وه کړے۔ بل دا چه که فيصله يې

وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ

او خودلے وُ مونږ هغه ته جوړول دَ زغرو تاسو لره چه بچ ساتي تاسو

مِّنْۢ بَاْسِكُمْ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ ﴿۸۰﴾

دَ جنګ ستاسو نه پس آیا تاسو شکر کوؤنکي یئ

وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً تَجْرِيْ

(او تابع کړې وه مونږ) سلیمان لره هوا تیزه روانه به وه

بِاَمْرِهٖٓ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ

په حکم دَ هغهٔ سره هغه ملک ته چه برکات اچولے دي مونږ په هغې کښ

کړے وي نو دا خطاء اجتهادي ده په اسے خطایئ سره یو اجر هم حاصلیږي او دا هم کیدے شي چه فیصله دَ داؤد علیه السلام صحیح وه لیکن الله تعالیٰ منسوخ کړه په فیصله دَ سلیمان علیه السلام سره او په نسخ کښ ډیر حکمتونه دي۔

وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا، دا جمله دلیل دے چه فیصله دَ داؤد علیه السلام هم صحیح ده او که اجتهادي شي نو دا جمله دلالت کوي چه په خطاء اجتهادي سره دَ مجتهد په صفت دَ حکم او دَ علم کښ نقصان او عیب نه راځي۔

وَسَخَّرْنَا، دلیل دے چه په دغه معامله کښ دَ داؤد علیه السلام په نبوت کښ هیڅ نقصان نه دے راغلے۔ او تسبیح دَ غرونو او مارغانو معجزه وه دَ داؤد علیه السلام او سخرنا او فاعلین دلیل دے چه معجزه فعل دَ الله تعالیٰ دے دَ انبیاء علیهم السلام اختیار پکښ نشته۔

او كُنَّا فَاعِلِيْنَ کښ اشاره ده دوام دَ تسخیر ته دَ هغوي په ژوند کښ۔

ف۸۰:۔ په دې کښ بله معجزه ذکر کړے ده لکه چه سورة سباء ف۱ کښ دي چه اوسپنه دهٔ ته نرمه کړے شوې وه بغیر په او رکښ دَ کرمولو نه، دَ هغې نه به یې زغرے او وسلے جوړولے۔ او په دے آیت کښ دلیل دے چه صنعت وحرفت سنت دَ انبیاؤ دے او دا رنګ دلیل دے

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿٨١﴾ وَمِنَ
او وو موږ په هر څیز باندے علم لرونکي۔ (او تابع کړی وو موږ) د
الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ
شیطانانو نه هغه څوک چه غوپے به ئے وهلے د هغه د پاره او کارونه به ئے کول
عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ﴿٨٢﴾
کارونه د دینه سوا۔ او وو موږ دوی لره حفاظت کوونکي۔

چه د ځان د بچ کولو د پاره د اسباب شرعیو استعمال هم سنت دے فَهَلْ اَنْتُمْ شٰكِرُوْنَ استفهام په معنیٰ د امر سره دے او په دے مطالبه کښ مقصد همیش والے د شکر دے۔

سلـ٨١ :- په دے آیتونو کښ د سلیمان علیه السلام د معجزاتو ذکر دے او هغه په یکښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔ هر کله چه سلیمان علیه السلام ډیرے غزاګانے کولے او سفرونه ئے کولے او ملک ئے هم ډیر وسیع وو د هغے د انتظام د پاره ګرځیدل وو نو د هغے وجے نه الله تعالیٰ هغه لره هوا تابع کړه د هغے صفت ئے په دے سورت کښ عَاصِفَةً (تیزه) او په سورة ص سلـ٣٦ کښ رخاء (نرمه) ذکر کړیدے اشاره ده چه هوا ګانے په دواړو حالتونو کښ د ده د پاره مسخرے وے کله به تیزے وے او کله به نرمے وے۔ الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ، د دے نه مراد زمکه د شام ده ځکه چه په هغے کښ غلے میوے او د زمکے نور فوائد ډیر په کثرت سره دی۔ او دا رنګ ډیر پیغمبران په هغه زمکه رالیږلے شوی وو۔ بِكُلِّ شَيْءٍ یعنی د هر څیز په تدبیر باندے الله تعالیٰ ښه عالم دے۔

سلـ٨٢ :- دا د بل معجزے ذکر دے یعنی د شیاطین الجن او سرکشانو نه کار اخستل معجزانه کار دے۔ يَغُوْصُوْنَ د دے د پاره چه د دریاب نه ملغلرے او قیمتی کانړی را اوباسی۔ حٰفِظِيْنَ یعنی د شیاطینو حفاظت د دے د پاره چه سلیمان علیه السلام ته تکلیف ورنکړی او د هغه د حکم نه خلاف ونکړی دا ټول په حکم د الله تعالیٰ سره وو په سحر او منتر سره نه وو۔ عَمَلًا ، د دے تفسیر په سورة سبا سلـ١٣ او سورة ص سلـ٣٧ کښ دے۔

وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ أَنِّي مَسَّنِيَ

او (یاد کړئ) ایوب علیه السلام کله چې چه فریاد کوؤ رب خپل ته چه رسیدلے دے ما ته

الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٨٣﴾

مرض او ته زیات رحم کوؤنکے یې د رحم کوؤنکو نه ۔

فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِن ضُرٍّ

پس قبوله کړه مونږ دُعا د هغهٔ نو لرې کړه مونږ هغه چه پیدا ؤ باندې چه مرض د ؤ

وَآتَيْنَاهُ أَهْلَهُ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً

او ورکړه مونږ دهٔ ته بال بچ د دهٔ او پشان د هغوی ور سره نور د وجې د رحمت زمونږ

۸۳:- دا دلیل نقلی دے د ایوب علیه السلام په دُعا او عاجزئ کولو سره الله تعالیٰ ته د پاره د تن کیر د توحید چه مشکل کُشا او د مرضونو شفاء ورکوؤنکے صرف الله تعالیٰ دے ۔

ایوب علیه السلام پیغمبر وؤ د رومیانو نه او ډیر مالدار وؤ او اهل یې هم ډیر وؤ نو الله تعالیٰ په هغه باندے ابتلاء اوکړه، مالونه یې ورله فنا کړه اهل یې ورله مړهٔ کړل (بغیر د بیبئ د مړک نه) او په بدن کښې مرض پیدا شو ۔ او مشهور قول دا دے چه پینځلس کاله ترینه تیر شول آخر مجبوره شو دُعاء څو بنتلو ته ۔ (او نور حالات د دے متعلق به انشاء الله تعالیٰ په تفسیر د سورة صٓ کښ راشي)۔

أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ، په دے کښ مفسر قرطبي اوولس اقوال ذکر کړي دي۔ ظاهر دا ده چه مراد د الضر نه مرض د بدن دے چه هغه ډیر شدت ته رسیدلے وؤ او دا اظهار د عجز دے الله تعالیٰ ته دا شکوه نه ده نو د صبر نه خلاف نه ده ۔ او په باره د ایوب علیه السلام کښ چه بعضے مفسرینو اوکړے قصّے لیکلے دي چه په هغے کښ د د اسے مرضونو ذکر دے چه په هغے کښې نفرت پیدا کوؤنکي یا په ډیران باندے غوځول دي وغیره دا اسرائیلی روایات دي د شان د انبیاء علیهم السلام سره مناسب نه دي ۔ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ، دا وسیله ده په صفت د الله تعالیٰ سره ۔ او د ادب د وجې نه ذکر مقصد یې اونکړو ۔

مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ

دَ طرف نه او یاداشت دَ عبادت کوؤنکو دَپاره. او (یاد کړه) اسمٰعیل

وَاِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ ۭ كُلٌّ مِّنَ

او ادریس او ذا الکفل دا ټول وو دَ

الصّٰبِرِيْنَ ﴿۸۵﴾ۚ ۖ وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ

صبر ناکو نه. او داخل کړي وو موږ دوی په رحمت زموږ کښې،

اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَذَا النُّوْنِ

یقیناً دوی وو دَ پوره نیکانو نه. او (یاد کړه) مهی والا (یونس)

س۸۴:- دا دلیل دے چه تیر شوی آیت کښې دُعاء ده. رَحۡمَةً کښې اشاره ده چه اجابت دَ دُعا دَ دے وجے نه دے چه الله تعالیٰ مجبوره نه دے بلکه دا احسان دَ الله تعالیٰ دے.

وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ. یعنی څوک چه دَ الله تعالیٰ بندګی کوی او په هغے کښې ورته مصیبتونه دَ مال او دَ بدن او رسیږی نو هغه دِ دَ ایوب علیه السلام دا واقعه یاده کړی ځکه چه هغه افضل وو او سره دَ دے نه په هغه باندے مصیبتونه راغلی دی او هغه صبر کړیدے.

س۸۵ س۸۶:- دا هم نقلی دلیلونه دی دَ دے دپاره چه پیغمبرانو نه چه هغوی په رحمت کښې الله تعالیٰ ته محتاج دی او دَ صبر او عبدیت عملونه ئے کول. او صبر دَ هغوی دلیل دے چه په هغوی باندے مصیبتونه راغلی وو. اسماعیل علیه السلام باندے مصیبت دَ ابتلاء دَ ذبح او په شاره او چه زمکه کښې دَ مور سره پواځے اوسیدل او دَ بیت الله په آبادئ کښې تکلیف تیرول وو. او دَ ادریس او ذالکفل علیهما السلام دَ تفصیلی حال ذکر قرآن کریم او صحیح حدیث مرفوع کښې نه دے شوے نو مونږ دَ هغے په باره کښې اجمالی ایمان لرو. او ابن کثیر وئیلی دی چه ظاهر دَ عبارت دَ قرآن کریم نه معلومیږی چه ذالکفل نبی وو او بعضو وئیلی دی چه صالح سړے وو او ابن جریر پکښې توقف کړے دے.

إِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا فَظَنَّ أَنْ لَّنْ

کله چه لاړیده له دے حال کښې چه غصه قوم خپل ته نو گمان یې اوکړو چه هیڅ کله

نَّقْدِرَ عَلَيْهِ فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ

تنګسیا به رانولو مونږ په ده باندے نو فریاد یې اوکړو په تیاروکښې

أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّآ أَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ إِنِّي

چه نشته فریاد قبلوونکے سوا ستا نه پاک یې ته یقینًا زه

كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٨٧﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ

یم د نقصان کوونکو نه د ځان سره - پس قبول کړو مونږ فریاد د ده

۸۷ :- دا هم دلیل نقلی دے د یونس علیه السلام نه په عجز او احتیاج د هغه الله تعالیٰ ته د پاره د تذکیر د توحید - نُون مهی ته وائی هغه د مهی په خیټه کښې څه وخت پورے وو او د مهی په ذریعه الله تعالیٰ د هغه حفاظت کړے وو ځکه منسوب شو په لقب کښې نُون ته -
مُغَاضِبًا نه مراد دا دے چه قوم ته غصه وو ځکه چه هغوی د هغه تکذیب کړے وو او خپل اجتهاد یې اوکړلو چه په دے قوم باندے ضرور عذاب راځی او د عذاب په وخت نبی د قوم نه بهر اوځی نو د دے وجے نه هغه د قوم نه بهر لاړو د الله تعالیٰ امر ته انتظار یې اونکړلو۔
ظُلُمٰتِ ، درے تیرے وے یو د شپے بل د بحر بل د مهی د خیټے - او په دے دُعاء د یونس علیه السلام کښې د دُعاء درے شرطونو ته اشاره ده اول شرط شروع کول په کلمه د توحید سره اشاره ده چه د بل هیچا نه دُعاء نه غوښتلے کیږی ځکه چه بل چا کښې صفات د الوهیت او د حاجت پوره کولو نیشته۔
دویم شرط تسبیح ذکر کول اشاره ده چه د الله تعالیٰ نه ځکه غوښتلے کیږی چه په هغه کښې نقصان د عجز او عیب نشته یعنی هر حاجت پوره کولو باندے قادر دے او د حاجت غوښتونکی په حال باندے پوره عالم دے۔

وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ
او بچ کړه موږ ده د غم نه او دا رنګ

نُـْۨجِي الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۸﴾ وَزَكَرِيَّآ
نجات ورکوو موږ مؤمنانو ته - او یاد کړئ ذکریا علیه السّلام لره

دریم شرط اقرار او اظهار د خپل عجز او قصور دے ځکه چه څوک عجز
الله تعالیٰ ته نه ظاهروی نو د هغه دُعا نه قبلیږی -
فائده :- بعضے جاهلانو مبتدعینو د دے آیت نه استدلال کړے دے
د انبیاء علیهم السلام په ګنهګار کیدلو په یو څو طریقو سره -
اوله طریقه، دا چه مُغَاضِبًا معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ ته غصه وو
او د الله تعالیٰ په کار باندے غصه کول ګناه ده -
دویمه طریقه، ده ګمان او کړو چه الله تعالیٰ په ده باندے قدرت نه
لری او انکار د قدرت د الله تعالیٰ نه ګناه ده -
دریمه طریقه، دا چه ځان ته یئے ظالم ویلے دے او هر ظلم ګناه ده -
د دے جوابونه په ترتیب سره دادی چه مُغَاضِبًا نه مراد دا دے چه
قوم ته غصه وو او کومو مفسرینو چه لِرَبِّهٖ ویلی دی د هغے مراد دا دے
چه د رب د وجے نه قوم ته غصه وو او دا عبادت دے او نَقْدِرُ په معنیٰ
د تنګسیا راوستل دی لکه چه يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ کښ دا
معنیٰ ده - او هر ظلم ګناه نه ده کله ظلم اقرار د قصور او د کوتاهئ ته
ویلے کیږی - لکه پدے دُعا کښ چه رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا كَثِيْرًا
او دا دعا نبی صلی الله علیه وسلم ابوبکر رضی الله عنه ته خودلے وه چه دا
حق دے په آخر کښ یئے لوله - او دا رنګ ظلم کله خلاف اولیٰ عمل کولو ته
ویلے کیږی یعنی اولیٰ او بهتره خبره دا وه چه یونس علیه السلام د الله تعالیٰ
د اذن انتظار کړے وے د پاره د هجرت د قوم خپل نه - او خلاف د اولیٰ
ته چه اوشی نو هغه ګناه نه وی -
۸۸:- غَمّ لفظ عام دے د تیارو د وجے نه خفګان او د خلاف اولیٰ عمل
کولو، خفګان دواړو ته شامل دے او د ده د نجات تفصیل په سورة صافات
کښ ذکر شویدے د ۱۴۸ نه تر ۱۴۸ پورے

إِذْ نَادٰى رَبَّهٗ رَبِّ لَا تَذَرْنِيْ فَرْدًا
کله چه فریاد یې اوکړو رب خپل ته اے ربه زما مه پریږده ما لره یواځې
وَّ اَنْتَ خَيْرُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۸۹﴾ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ
او ته یې غوره د باقي پاتې کیدونکو نه۔ نو قبوله کړه مونږ دُعاء د هغه
وَ وَهَبْنَا لَهٗ يَحْيٰى وَ اَصْلَحْنَا لَهٗ زَوْجَهٗ
او او بخښه مونږ ده ته یحییٰ علیه السلام او قابله کړه مونږ ده لره بي بي د ده

وَكَذٰلِكَ کښ اشاره ده چه دا دُعاء د نورو مؤمنانو نه هله قبلیدلے شي چه د یونس علیه السلام په شان اخلاص او عجز په ځان کښ پیدا کړي او د هغه د شرطونو لحاظ اوکړي۔ او په حدیث د ترمذي او احمد کښ دے دُعا ته یې ترغیب ورکړے دے او ابن کثیر هم دغه روایت ذکر کړے دے۔

۸۹:۔ دا هم دلیل نقلي دے د ذکریا علیه السلام نه د پاره د تذکیر د توحید چه ذکریا علیه السلام عجز او احتیاج خاص الله تعالیٰ ته پیش کوؤ۔

فَرْدًا نه مراد یواځې د دین خدمتګار دے، چه ملګری نه لري۔

الْوٰرِثِيْنَ نه مراد ساتنه کوونکي د دین دي۔

إِذْ نَادٰى د دے نداء ذکر په سورة آل عمران ۳۸ او په سورة مریم ۳ کښ تیر شوے دے۔

فائده:۔ په دے سورت کښ د څلورو انبیاؤ نه یې نداء الی الله ذکر کړیده اشاره ده چه د انسانانو حاجات په دے څلورو کښ منحصر دي۔ اول د دشمن په مقابله کښ او د دشمن نه د بچ کیدلو حاجت دا نداء د نوح علیه السلام ده۔ دویم د بدني او جسماني مرضونو په باره کښ الله تعالیٰ ته فریاد کول او دا نداء د ایوب علیه السلام وه۔ دریم د عام تکالیفو او مصیبتونو نه د نجات د پاره دا نداء د یونس علیه السلام وه۔ څلورم د اولاد په باره کښ چه میراث دیني او دنیوي سنبال کړي او دا نداء د ذکریا علیه السلام وه۔ نو معلومه شوه چه انسانان خواص او عوام ټول الله تعالیٰ ته

إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ

یقیناً دوی به وو چه کوشش به ئې کوو په نیکو کارونو کښ

وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ﴿٩٠﴾

او حاجتونه ئې غوښتل زمونږ نه مینه کوونکي وو او ویره کوونکي وو او وو دوی زمونږ نه عاجزي کوونکي۔

په هر حالت او حاجت کښ محتاج دی او په دوی باندې فرض دی چه صرف د یو الله تعالیٰ نه خپل حاجتونو کښ مدد غواړی۔

۸۹۔ طریقه د استجابت د دُعاء او د یحیٰ علیه السلام پیدائش په سورة آلعمران او سورة مریم کښ ذکر شوی دے۔

أَصْلَحْنَا لَهُ، مراد دا دے چه د دے نه مخکښ شنډه وه نو الله تعالیٰ تاندہ کړله۔

إِنَّهُمْ كَانُوا آه، د تفصیلی بیان نه روستو دا اجمالی بیان دے چه ټول انبیاء علیهم السلام الله تعالیٰ ته محتاج دی او د هغوی درې قسمه عبادات ئې ذکر کړے دی۔

اول يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ مراد د دینه امتثال د ټولو اوامرو دے، او اجتناب د ټولو منهیاتو نه۔ او مراد د مسارعت نه تقدیم الاهم فالاهم دے او د دے جملې نه امام رازی دلیل ذکر کړے دے په عصمت د انبیاء علیهم السلام باندې۔ ځکه چه الف لام په الخیرات کښ د استغراق د پاره دی او کتاه نه کول هم فرد د الخیرات دے۔

دویم يَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا۔ یعنی د طاعت او عبادت سره الله تعالیٰ ته حاجات پیش کول او خاص د هغهٔ نه امداد غوښتل۔ رَغَبًا وَرَهَبًا مراد دا دے چه په حال د دُعاء کښ رغبت او امید لری د رحمتونو د الله تعالیٰ او هم ویره لری د غضب د الله تعالیٰ نه یا دا چه په حال د خیر کښ د الله تعالیٰ نه دُعاء غواړی او په حال د ویرې کښ هم د الله تعالیٰ نه غواړی۔ او په دے کښ اشاره ده چه رغبت او رهبت یو ځائے کول صحیح عبادت دے۔

دریم وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ، یعنی هر حالت کښ اخلاص او عاجزي الله تعالیٰ ته کوئ ځکه چه هیڅ عبادت او دُعاء په غیر د اخلاص او د عجز نه نه قبلیږی۔

وَالَّتِيْٓ اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيْهَا

او هغه زنانه چه ساتلے وو هغې خپل عورت نو پو کړه اوکړو مونږ په هغې کښ

مِنْ رُّوْحِنَا وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿٩١﴾

د روح د طرف زمونږ نه او اوګرځوله مونږ دے لره او ځوئے د دے لره نخه د پاره د خلقو.

اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ وَّاَنَا رَبُّكُمْ

یقینًا دا (دین د انبیاؤ) دین ستاسو دے په داسے حال چه یو دین دے، او زه ستاسو رب یم

فَاعْبُدُوْنِ ﴿٩٢﴾ وَتَقَطَّعُوْٓا اَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ ۭ

نو بندګی ما لره خاص کوئ. او ټکړے کړو دوی دین خپل لره په کورنۍ کښ.

٩١ - دا هم دلیل نقلی د مریم او عیسٰی علیهما السلام نه دے چه هغوی د الله تعالٰی ارادے او حکم نه عاجز وو. دا هم تذکیر د توحید دے. او دا واقعه د مخکنو قصو نه جدا ذکر کړه ځکه چه مریم نبیه نه وه او هر کله چه د عیسٰی ذکر پکښ دے نو د هغه واقعاتو سره یې نه دے ذکر کړے.
اَحْصَنَتْ فَرْجَهَا کښ رد دے په یهودیانو باندے چه هغوی بهتان لګولے وو په مریم علیها السلام باندے. او مراد د فرج نه عورت دے یا فروج د قمیص مراد دے چه هغه څلور دی دوه لستوڼې او ګریبان او لاندے د لمن نه، او مقصد د دے نه اظهار د عفت او پاکدامنۍ د هغې دے.
اٰيَةً یې مفرد ذکر کړو مراد تری نه جنس دے نو ډیرو آیاتو ته اشاره شوه یا دا چه په دواړو کښ یو آیت عظیمه وو یعنی ولادت بغیر د نزدیکت د نارینه نه. یا دا چه عبارت کښ تقدیر دے یعنی جَعَلْنٰهَا اٰيَةً وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ، او تفسیر قرطبی کښ یې داسے تشریح کړیده. لِّلْعٰلَمِيْنَ کښ اشاره ده چه دا واقعه په ټول عالم کښ صرف یوه وه.
٩٢ - دا خطاب دے ټولو خلقو ته روستو د انبیاؤ علیهم السلام نه د پاره د ترغیب توحید نه یعنی دین د توحید دین د ټولو انبیاؤ دے او ستاسو هم دغه دین دے وَاَنَا رَبُّكُمْ اه بیان د اُمَّة (دین) دے په رد د شرک د ربوبیة او الوهیت سره. امت دلته په معنٰی د شریعت، سنت او دین سره دے.

ع ۶ / ۱۸ / ۶

كُلٌّ اِلَيْنَا رٰجِعُوْنَ ﴿۹۳﴾ فَمَنْ يَّعْمَلْ

دا ټول په موږ طرفته راګرځي. پس څوک چه عمل اوکړو

مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا كُفْرَانَ

د نیک عملونو نه او حال دا چه دے مؤمن وي پس ناشکري

لِسَعْيِهٖ ۚ وَاِنَّا لَهٗ كٰتِبُوْنَ ﴿۹۴﴾ وَحَرٰمٌ

نه کیږي د عمل د ده، او یقیناً موږ لیکونکي د هغه یو. او مقرر ده

عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۹۵﴾

په هر یو کلي چه هلاک کړي دي موږ چه دوي به دنیا ته واپس نشي راتلے.

۹۳:- دا زجر دے هغه خلقو ته چه دین د توحید نه ئے مخالفت کړیدے او اَمْرَ په معنیٰ د دین دے یعنې پس د پریخودلو د توحید نه په کورنۍ کښ مختلف ډلے شوے او د شرک او د کفر په مختلفو قسمونو کښ تقسیم شول.

۹۴:- خلاصه :- د دے آیت نه د سورت تر اختتام پورے پنځم باب دے په دیکښ بشارت دے په ۹۴ کښ او تخویف اخروی تفصیلی دے د ۹۵ نه تر ۱۰۳ پورے بیا بشارت تفصیلیه دے په درے آیاتو کښ بیا تخویف اخروی او بشارت دے بیا ذکر د صداقة رسول دے په ۱۰۵ کښ بیا تخویف دنیوی دے په ۱۰۹ ۱۱۱ کښ سره د رد د شرک فی العلم نه په درے آیتونو کښ بیا اختتام د سورت دے په رد د شرک فی الاستعانة او ذکر د تضرع د نبی صلی الله علیه وسلم دے په مقابله د مشرکانو کښ.

تفسیر:- په دے آیت ۹۴ کښ بشارت دے مؤمنانو ته چه د دوی عمل برباد نه دے بلکه سبب د اجر و جزاء دے او د الله تعالی سره محفوظ دے - او دا تفصیل د تقطعوا دے یعنې ټول خلق دوه ډلے دی.

فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ ، کفران په معنیٰ د ناشکرۍ کولو او ضائع کولو دے معلومه شوه چه د شرک او کفر او ترک د عمل صالح سره (چه بدعت دے) اعمال ضائع کیږي نور آیتونه هم په دے دلیل دی.

۹۵:- په دیکښ زجر او تخویف دے دوېمے ډلے ته په آیت کښ اشکال دے

حَتّٰىٓ اِذَا فُتِحَتْ يَاْجُوْجُ وَمَاْجُوْجُ

تر دے پورے چہ کلہ پرانستے شی یاجوج او ماجوج

وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ﴿۹۶﴾

او دوی بہ د هرے دیرئ نہ منډے وهی۔

پہ دے وجہ چہ دَ حَرَامٌ معنٰی منع دہ او لَا يَرْجِعُوْنَ معنٰی دا دہ چہ دنیا تہ واپس نہ راځی، یا دا چہ دَگناہ نہ نۀ راگرځی پہ توبے سرہ، نو معنٰی دا شوہ چہ هلاک کړے شوے خلقو باندے دنیا تہ نہ واپس کیدل او توبہ تہ ویستل منع دی نو لازم دا شوہ چہ دوی بہ دُنیا تہ واپس راځی او توبہ بہ اوباسی او دا معنٰی دَ نورو آیتونو نہ خلاف دہ لکہ سورۃ مؤمنون ۱۰۰ او سورۃ انعام ۲۸ او سورۃ یٰسٓ ۳۱ کښ، جواب پہ درےؤ وجوهو سرہ دے۔
اوله وجہ دا دہ چہ حَرَامٌ پہ معنٰی دَ وجب او قد قدرد دے او دا دَ ابن عباس رضی اللہ عنہ نہ نقل دے۔
دویمہ وجہ دا دہ چہ لا زیات دے او دا قول دَ ابو عبید دے خو مناسب نہ دے۔
دریمہ وجہ دا دہ چہ توبہ کول او ایمان راوړل حرام دی پہ هلاک کړے شوے قومونو باندے ځکہ چہ دوی دنیا تہ واپس نشی راتلے۔ او پہ دے تولو وجوهو سرہ دا معلومہ شوہ چہ کوم خلق چہ مړہ شویدی نو هغوی دُنیا تہ واپس نشی راتلے۔ او دنیا تہ دَ مړو راتلل دا دَ روافضو عقیدہ دہ او کومے قصّے چہ مشهورے دی چہ فلان سړے فلان ولی بزرگ لرہ روستو دَ مرګ دَ هغہ نہ دُنیا کښ ژوندے لیدلے دے دا ټولے غلطے قصّے او تلبیسات دَ شیاطینو دی او دَ معراج پہ شپہ کښ چہ لیدلے شوے وُو نو هغہ عَالَم مثال وو او معجزہ وہ۔ دَ هغے تفصیل پہ تشریح دَ معراج کښ تیر شوے دے۔
۹۶:- پہ دے آیت کښ بعضے علامات قریبہ دَ قیامت ذکر کړے دی چہ صحیح احادیثو سرہ ثابت شویدی چہ روستو دَ فتنے دَ دجال نہ بہ یاجوج ماجوج پہ ټول عالم مسلّط کړے شی۔
او حَتّٰىٓ ابتدائیہ دے یعنی مستقل کلام شروع شوے دے یا متعلق دَ

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ
او نژدې به شي وعده حقه نو دغه وخت به وازې (حيرانې) وي
أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا يَاوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا
سترګې د هغه چا چه کفر يې کړے دے، وائي به دوى هائے تباهي ده زمونږ يقيناً وو مونږ
فِي غَفْلَةٍ مِنْ هَذَا بَلْ كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿٩٧﴾
په غفلت کښ د دے نه بلکه مونږ ظالمان وو.
إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ
يقيناً تاسو او هغه څوک چه تاسو يې بندګي کوئ سوا د الله تعالى نه

په لَا يَرْجِعُونَ پورے يعنى دوى نشي واپس کيدلے تر هغې پورے چه د قيامت دا علامه موجود شي او بيا قيامت قائم شي.
حَدَبٍ يَنْسِلُونَ کښ اشاره ده چه د دوى د راتللو او مسلط کيدلو نه هيڅ څيز به منع کوونکے نه وي يعنى د دوى سره به ډير اسباب د سفر وي هوائي او زميني. او د ياجوج ماجوج ذکر په سورة کهف ٩٤ کښ تير شوے دے. او ابن جرير ابن کثير د دوى په باره کښ ډير احاديث ذکر کړي دي.
٩٧. دا دليل دے چه په راتللو د ياجوج ماجوج پسے به قيامت ډير نژدے راځي ځکه چه وَاقْتَرَبَ معطوف دے په فُتِحَتْ باندے او پدے آيت کښ هيبت د قيامت ذکر کړے دے او دا پسے په سورة ابراهيم ٤٢، ٤٣ کښ تير شوے دى.
يَاوَيْلَنَا آه دا اقرار دے په جرم د شرک او کفر سره ليکن دغه وخت دا اقرار هيڅ فائده نه ورکوى. او دا آيت مناسبت لري د سورت د اول آيت سره.

حَصَبُ جَهَنَّمَ ۭ اَنْتُمْ لَهَا وٰرِدُوْنَ ﴿۹۸﴾

خشاک د جهنم دے تاسو به هغې ته ورننوځئ.

لَوْ كَانَ هٰۤؤُلَاۤءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ۭ

که چرے وے دوی د بندگۍ حقدار نه به ورننوتلی جهنم ته،

وَكُلٌّ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۹۹﴾ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّ

او دوی به ټول په هغې کښ همیشه وی۔ دوی د پاره په هغې کښ هنړا ربه وی او

س۹۸:۔ دا هم تخویف دے او رد دے په مشرکانو باندے یعنی دا مشرکان چه د خپلو معبودانو نه د نجات ورکولو امید نه لری نو دا خیال ئے غلط دے ځکه چه هغه معبودان به هم اور ته داخلیږی نو دوی له به څنګه نجات ورکړی۔ پدے آیت کښ اشکال دے چه د لفظ مَا نه معلومیږی چه ټول معبودان د مشرکانو به جهنم ته داخلیږی نو بعضے د معبودانو نه انبیاء اولیاء او ملائک هم دی چه بعضے خلقو د هغوی عبادتونه کړے دی او دا اعتراض مفسرینو د ابن الزبعری نه هم نقل کړے دے جواب د دے په څو وجو سره دے۔

اوله وجه دا ده چه لفظ د مَا قطعی صریح نه دے په عموم کښ بلکه احتمال د عموم او خصوص د دواړو لری دا سے شرح مواقف نورالانوار وغیره کښ ذکر شوی ده او ابن الزبعری مشرک وو هغه تلبیس او دهوکه کوله چه لفظ د مَا نه ئے عموم مراد کوو۔ نو دلته مراد د مَا نه خاص هغه معبودان مراد دی چه هغوی خلقو ته د شرک او بدعت دعوت ورکوی یعنی باطل پرست پیران او مُلیان۔

دویمه وجه دا ده چه لفظ د مَا اګر چه عام شی لیکن س۱۰۱ سره د صالحینو استثناء کړے شوی ده۔ حَصَبُ، هغه خشاک وغیره ته وئیلے کیږی چه اور ته او غورځولے شی د پاره د سیزلو د هغې او حَطَبُ صرف خشاک ته وئیلے کیږی نو حصب کښ معنیٰ د ذلت ده۔

س۹۹:۔ دا دلیل دے په ابطال د اٰلِهَةً مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ تعالیٰ ځکه چه ځان او خپل عابدان د جهنم نه نشی بچ کولے نو څه رنګ الٰهه کیدلے شی.

هُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿١٠٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ

دوی به په هغې کښې هیڅ نه آوری۔ یقینًا هغه کسان

سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنَىٰ ۙ أُولَٰئِكَ

چه مونږ کښې مقرر شوی ده دوی د پاره زمونږ د طرفه جنت دوی به

عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾ لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ

د جهنم نه لرې کړے شوی وی۔ نه به آوری دوی کشار د جهنم

وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾

او دوی به په هغه څه کښې چه غواړی ئې د دوی نفسونه همیشه وی۔

دا رنګ که د دوی بندګی کول حق وے نو د دوی عابدان به جهنم ته نه داخلیدلے۔ مَا وَرَدُوهَا ضمیر عابدان او معبودانو دواړو ته راجع کیدلے شی۔ او کُلٌّ کښې هم دواړه مراد دی۔

١٠٠: زَفِيرٌ ساه اخستل د غمژن شخص دی چه را او ځی د هغه د زړه نه مراد تریخه اسویلی کول دی۔ دلته په سورة هود ١٠٦ کښې هم ذکر دی هر کله چه پدے آیتونو کښې یو قسم مشرکان ذکر دی نو صرف زفیر ئې ذکر کړو او سورة هود کښې په لفظ شقوا سره تعمیم کړے دے نو په عذاب کښې تعمیم کړے دے په زفیر او شهیق دواړو سره والله اعلم۔

لَا يَسْمَعُونَ یعنی شور د جهنم والو به داسے ډیر وی چه د چا خبره به نه آوریدلے کیږی۔ او دا آیت دلیل دے چه مراد د آلهه نه بتان نه دی بلکه اهل عقل دی ځکه چه دا صفات د بتانو نشی کیدلے۔

١٠١: روستو د تخویف اخروی نه بشارت دے دا جواب د هغه وهم دے که څوک وهم اوکړی چه آلهه لفظ چه مخکښې آیت کښې تیر شو شامل دے هغه صالحینو ته چه د هغوی عبادت کړے شوے دے نو دے آیت کښې د هغوی استثناء اوشوه۔ او مراد د سَبَقَتْ نه وعده د جنت ده محسنینو د پاره لکه سورة یونس ٢٦ کښې۔ یا مراد د دینه تقدیر کښې د جنت لیکل دی صالحینو د پاره۔ اَلْحُسْنَىٰ مراد د دینه جنت یا سعادت دے او په دے کښې ملائک عزیر عیسیٰ او نور صالحین داخل دی

١٠٢: که سوال اوکړے شی چه دا دے تعارض دے د سورة مریم ٧١ سره؟

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَتَتَلَقّٰهُمُ

نه به غمژن کوی دوی لره هیبت لوئے او مخے له به راځی دَ دوی

الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ

ملائک (وائی به) دا ورځ ستاسو ده هغه چه تاسو سره کے

تُوْعَدُوْنَ ۝۱۰۳ يَوْمَ نَطْوِي السَّمَآءَ كَطَيِّ

وعده کیده شوه - هغه ورځ چه راټول به نغاړو مونږ آسمانونه پشان د رانغختلو

السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ؕ كَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ

دَ رجسټر والا کتابونو لره ، لکه چه شروع کړیده مونږ اول پیدائش

نُّعِيْدُهٗ ؕ وَعْدًا عَلَيْنَا ؕ اِنَّا كُنَّا فٰعِلِيْنَ ۝۱۰۴

دوباره به هم دغسے کوو ، وعده ده په مونږ باندے یقیناً مونږ دا کار کوو -

اول جواب دا دے چه په هغه آیت کښ وارِد په معنی دَ داخلیدو لکے نه دے بنا په یو تفسیر سره -

دویم جواب دا دے چه پدے آیت کښ مطلب دا دے چه دوستو دَ دخول دَ جنت نه به دَ جهنم هیڅ کش نه آوری نو تعارض نه راځی -

مَا اشْتَهَتْ ، یعنی هر مطلوب او محبوب به ورته حاصل وی او دَ هر ضرر او مرهوب نه به بچ وی -

ف۱۰۳ :- دا سے سورة نمل ۸۹ کښ هم دی او مراد دَ فزع اکبر نه هیبت دَ ورځ دَ قیامت دے په هغے کښ ذبح الموت (ذبح دَ مرګ) هم داخل دے لکه چه حدیث صحیح کښ ذکر دی او ملاقات دَ ملائکو دَ دوی سره په هغه وخت کښ چه دَ قبرونو نه به راوځی او دا رنګ په دروازو دَ جنت باندے -

ف۱۰۴ :- دا متعلق دے لَا يَحْزُنُهُمْ پورے ، یعنی نه به غمژن کوی دوی لره لوئے هیبت په هغه ورځ چه راونغاړو به آسمانونه یا متعلق دے په تُوْعَدُوْنَ پورے - یا دَ سره کلام دے او نُعِيْدُهٗ سره تعلق لری او مراد دَ سَمَآءَ نه ټول آسمانونه دی په دلیل دَ سورة زمر ۶۷ سره -

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ
او یقیناً لیکلي دي موږ په زبور کښ روستو د
الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ
ذکر (تورات) نه چه بیشکه زمکې وارثان به وي د هغې بندګان زما
الصّٰلِحُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ إِنَّ فِي هٰذَا لَبَلٰغًا
نیکان - یقیناً په دے (مضمون) کښ خامخا تبلیغ دے

سِجِلِّ. کښ غوره قول دا دے چه هغه رجسټر دے چه په هغې کښ نومونه یا حکمونه او فیصلے مسجل (درج) کیږي نو هغه رجسټر په خپلو مضامینو باندے مشتمل وي او هغه مضامین په هغې کښ رانغښتلي شوي وي دا قول د ابن عباس رضی الله عنهما دے او دیته ابن کثیر صحیح ویلي دي. او چا چه ویلي دي چه سجل نوم د کاتب د وحی صحابي د نبي صلی الله علیه وسلم وو نو ابن جریر او ابن کثیر په هغې روایت رد کړے دے چه دا منکر بلکه موضوع دے. په صحابو کښ داسے نوم نقل نشته. په كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ داسے سورة اعراف ۲۹ کښ هم دي.
۱۰۵. پدے آیت کښ بشارت اخروي دے بناء پدے چه مراد د الْأَرْضَ نه زمکه د جنت ده لکه سورة زمر کښ ۷۴ یا بشارت دنیوي دے بناء په دے چه مراد د دینه زمکه د شام ده یا حکومت د بعضے زمکے ترینه مراد دے لکه چه داسے وعده بني اسرائیلو د پاره هم ذکر شوېوه په سورة اعراف ۱۳۷ کښ. او د دے امت د پاره په سورة نور ۵۵ کښ. زَبُورِ. په معنیٰ مشهوره سره دے یعنی کتاب د داؤد علیه السلام او د ذِکْرِ نه مراد یا ذکر الٰهي او بیان د توحید دے په زبور کتاب کښ یا ذکر په معنیٰ د تورات سره دے یا د لوح محفوظ دے یا زبور په معنیٰ لغوي سره دے یعنی لیکلے شوے کتابونه نو مراد ترینه ټول کتابونه الٰهیه دي (تورات، انجیل، زبور) - ذکر په معنیٰ د لوح محفوظ سره دے او چه مراد د الارض نه زمکه د شام شي او هغه پدے سورت کښ په ۷۱ ۸۱ کښ ذکر شوېده او عباد الصالحین نه

لِقَوْمٍ عٰبِدِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا

دپاره د هغه قوم چه بندګي کوي رب ته (اخلاص سره) او نه يې لیږلے مونږ ته مګر

رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾ قُلْ اِنَّمَا يُوْحٰٓى

رحمت دپاره د ټولو خلقو۔	او وايه	يقينًا وحي کيدیشي ما ته

اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَهَلْ

ما ته	چه حقدار د بندګۍ ستاسو يو ذات دے	نو آيا

مراد دا امت دے نو دا وعده د عمر بن خطاب رضي الله عنه په زمانه کښ پوره شوه زمکه د شام فتح کړے شوه او والي د هغې معاويه رضي الله عنه مقرر کړے شو نو معلومه شوه چه معاويه رضي الله عنه د دے صالحينو په ټولي کښ شمار دے او تبصير الرحمٰن کښ علامه مهائمي ليکلي دي چه نه دي صالحان مګر صحابه کرام دي۔

۱۰۶:۔ تير شوي آيت کښ چه کوم بشارت ذکر کړے شو د هغې د حاصلولو دپاره په دے آيت کښ ذريعه بيانوي۔ هٰذَا اشاره ده مضمون د دے سورت ته يا ټول قرآن ته او بَلٰغ په معنیٰ د کفايت او د مراد حاصلولو دے او عٰبِدِيْنَ نه مراد موحدين دي چه بندګي په شرعي طريقے سره ادا کوي يا عاملان د قرآن کريم دي لکه چه تفسير مواهب الرحمٰن کښ ذکر کړے دي۔

۱۰۷:۔ هر کله چه صلاحيت او عبادت موقوف دے په تابعدارۍ د سنت د رسول الله صلی الله عليه وسلم او په عقيده د توحيد پابندے نو د دے دواړو آياتونو کښ يې دا دواړه بنيادونه ذکر کړل۔ او د علامه ابن قيم رحمة الله نه نقل دي چه رسالت د رسول الله صلی الله عليه وسلم رحمت دے د ټول عالمينو دپاره په اسے طريقه چه مؤمنانو کاملانو په سبب د تابعدارۍ د هغه د دنيا او د آخرت کرامتونه او شرافتونه حاصل کړل او دشمنانو محاربينو دپاره رحمت دے د هغوي سره جهاد او غزا کول دپاره د اسلام قبلولو او اهل ذمه کافرانو دپاره په جزيه ادا کولو سره په امن او سيدلل رحمت دے او منافقانو ته سره د يت

أَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ ﴿١٠٨﴾ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ

تاسو غاړه ایښودونکي یئ (دے مسئلے ته) پس که دوی مخ اوګرځوو نو اووایه

اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ ۭ وَإِنْ أَدْرِيْٓ

ما تاسو خبر کړئ په پوره خبردارئ ، او زه نه پوهیږم

أَقَرِيْبٌ أَمْ بَعِيْدٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ ﴿١٠٩﴾

آیا نزدے دے یا لرے دے هغه (عذاب) چه تاسو سره ئے وعده کیدیشي.

إِنَّهٗ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ

یقینًا الله تعالٰی پوهه دے په ښکاره وینا او پوهه دے

کفر نه مؤمنانو پشان حقوق دَ دُنیا ورکول رحمت دے او دَ عام مخلوق دَپاره دَ عام عذابِ دنیوی نه بچ کیدل رحمت دے - او آیت دَ سورة نور په سلا کښ خاص رحمت مراد دے ځکه چه دَ مؤمنانو تخصیص ئے کړے دے.

سلا :- په دے آیت کښ مسئله دَ توحید ده چه هغه مقصد دَ رسالت دے او سبب دَ حصول دَ رحمتِ خاصه دے.

فَهَلْ أَنْتُمْ مُسْلِمُوْنَ ، دا په معنیٰ دَ امر دے او مراد دَ اسلام نه توحید منل دی یا توحید ښکاره کول دی په اقرار او عمل او دعوت سره .

سلا :- په یکښ تخویف دَ عذاب دے که دنیوی وی او که اخروی وی په وخت دَ اعراض دَ توحید نه.

اٰذَنْتُكُمْ عَلٰى سَوَآءٍ یعنی ما تاسو ته برابر او پوره بیان دَ توحید کړے دے ما ستاسو نه هغه علم نه دے پټ کړے یا مراد دا دے چه ما تاسو ته دا آخری بیان اوکړو اوس پس دَ دینه انتظار دَ عذاب دے او په آیت کښ نفی دَ علم غیب ده دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه.

مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٠﴾ وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ

په هغه خبره باندې چه تاسو يې پټوئ. او زۀ نۀ پوهېږم کيدی شي چه ځنډ د روستو کېدل امتحان وي

لَّكُمْ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾ قَالَ رَبِّ احْكُم

تاسو لره او نفع وي تر يو وخت پورې. اُووئيل ده اې رب زما فيصله اوکړه

بِالْحَقِّ ۗ وَرَبُّنَا الرَّحْمَٰنُ الْمُسْتَعَانُ

حقه فيصله، او رب زمونږ رحمان دې مدد غوښتلې کېږي د هغه

عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١١٢﴾ ع النصف ۱۹ ع

په برداشت د هغه خبرې چه تاسو يې بيان کوئ.

۱۱۱ :- په يکښ ذکر د سبب د عذاب دے چه هغه شرک کول دي پټ او ښکاره او آيت کښ ثبوت د صفت د علم کلي دے د پاره د الله تعالیٰ. او دا علت دے د دے قول د پاره چه وَإِنْ أَدْرِي. يعني علم د هر څيز او علم غيب خاص دے په الله تعالیٰ پورې د دے وجے نه ما ته علم د غيب نشته دے.

۱۱۱ :دا جواب د سوال دے چه هر کله سبب د عذاب موجود دے نو په دوي باندې سمدستي عذاب ولې نه راځي حاصل د جواب دا دے چه پوره وجه د روستو والي ما ته نه ده معلومه هاں امتحان کول او مهلت د دے وجه کيدي شي. او په دے آيت کښ هم نفي د علم غيب ده د نبي صلی الله عليه وسلم نه.

۱۱۲ :- هر کله چه په وخت د مهلت او تاخير د عذاب کښ ضد يانو او عناد يانو سخته مقابله د حق شروع کړله نو نبي صلی الله عليه وسلم دا دُعاء اوغوښتله او په آيت کښ رد د شرک في التصرف والاستعانة دے او لکه چه په دے سورت کښ د تير شوؤ انبياء عليهم السلام دُعاگانې او عاجزي ذکر کړے شوے ده نو په اختتام کښ د آخري نبي صلی الله عليه وسلم دُعا او عاجزي ذکر کوي.

سورة الحج مدنية	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	اٰياتها ٧٨ ركوعاتها ١٠

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوۡا رَبَّكُمۡ‌ۚ اِنَّ زَلۡزَلَةَ

اے خلقو! ویره کوئ د رب خپل نه یقینًا زلزله

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورة الحج :- د دے سورت بعضے آیاتونه مکیه دی او بعضے آیاتونه مدنیه دی - مفسر قرطبی د غزنوی نه نقل کړے دی چه دا سورت د عجیبه سورتونو نه دے څکه چه په دیکښ بعضے آیاتونه د شپے نازل شویدی او بعضے د ورځے او بعضے په سفرکښ نازل شویدی او بعضے په حضرکښ او بعضے ناسخ دی او بعضے منسوخ او بعضے د صلح دی او بعضے د جنګ او بعضے محکم دی او بعضے متشابه دی -

ربط :- د دے سورت د سورة انبیاء سره یو دا دے چه تیر شوی سورت کښ عجز او احتیاج د انبیاء علیهم السلام ئے الله تعالیٰ ته ذکرکړو نو په دے سورت کښ رد دے په هغه چا بانندے چه خپل احتیاج او عجز غیرالله ته پیش کوی -

دویم دا چه د هغه سورت په اول کښ د قیامت نزدیکت ئے ذکر کړو نو د دے سورت په اول کښ د زلزلة الساعة ذکرکوی -

دریم دا چه هغه سورت کښ د دین یو والے ذکرکړو ان هذه امتکم امة واحدة الاية ، نو په دے سورت کښ تفرق او ډلے د خلقو ذکر کړیدی -

دعویٰ د دے سورت دوه دی اول اثبات د توحید په لس عقلی دلیلونو سره او په رد د ټولو اقسامو د شرک سره دے او دویم اثبات د بعث دے په عقلی دلیلونو او تخویف او بشارت سره -

خلاصه د دے سورت - دا سورت تقسیم دے څلورو بابونو ته اول باب تر ٢٥ پورے دے په دیکښ دواړه دعوے او تخویف اخروی ذکر دے په سلسله کښ بیا اقوه زجرونه او دریے عقلی دلیلونه دی او تخویف اخروی تفصیلًا او بشارت اخروی تفصیلًا دے -

السَّاعَةِ شَیۡءٌ عَظِیۡمٌ ① یَوۡمَ تَرَوۡنَهَا

دَ قیامت بو غټه هیبتناک دے. په هغه ورځ چه او به وینئ تاسو هغې لره

تَذۡهَلُ کُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّاۤ اَرۡضَعَتۡ

چه غافله به شي هره پی ورکوونکې د هغه څیز نه چه پی ورکوی هغه لره

وَتَضَعُ کُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَی

او او به غورځوی هره حمل والا حمل خپل او وینې به ته

النَّاسَ سُکٰرٰی وَمَا هُمۡ بِسُکٰرٰی وَلٰکِنَّ

خلقو لره نشه او حال دا چه دوی نه دی نشه (په شکلو د نشه او د تمیز سره) او لیکن

تفسیر ۱:- په دې کښې دعوی د توحید او دعوی د اثبات قیامت ده په ذکر د لوے نمونے د قیامت سره.

فائده:- د قرآن د ترتیب د ابتداء نه څلورم سورت (سورة النساء) شروع دی په یٰاَیُّهَا النَّاسُ سره او د قرآن د نصف نه هم دا څلورم سورت شروع دے په یٰاَیُّهَا النَّاسُ سره په هغه سورت (النساء) کښې مبدء د خلق ذکر کړے شوے ده او په دے سورت کښې منتهی (قیامت) ذکر کړے ده.

زَلۡزَلَةَ السَّاعَةِ، کښې دوه تفسیرونه دی. اول تفسیر دا دے چه د قیامت د قائم کیدو نه وړاندے د مخلوق د فنا سره به دا زلزله په ټوله زمکه باندے راځی لکه چه سورت زلزال کښې هم دا مراد دے او روستو په ۲ کښې حالات واقعیه دی او په حقیقت باندے حمل دی.

دویم تفسیر دا دے چه مراد د دینه لوے هیبت دے په میدان حشر کښې لکه چه حدیث صحیح کښې راغلے دی چه الله تعالیٰ به حکم اوکړی آدم علیه السلام ته (او بل روایت کښې دی چه حکم به اوکړی ملائکو ته او دواړه جمع کیدے شی) چه د خپل اولاد نه دله د جهنم راجدا کړه نو هغه به تپوس اوکړی د څومره نه څومره نو الله تعالیٰ به اوفرمائی د زرو نه یو کم زر جدا کړه د پاره د جهنم او یو تن به حق جنت ته نو دغه وخت به لوے هیبت راځی په خلقو باندے. امام بخاری دا حدیث په تفسیر د دے آیت کښې ذکر کړے دے او ابن جریر هم دا توجیه غوره کړے ده. په دے قول

عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۝۲ وَمِنَ النَّاسِ

عذاب دَ الله تعالیٰ سخت دے ۔ او د بعضے دَ خلقو نه

مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

هغه څوک دی چه جګړه کوی په باره دَ توحید دَ الله تعالیٰ کښ بغیر دَ پوهے نه

وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۝۳ كُتِبَ

او روان وی په هر شیطان سرکش پسے ۔ مقرر شوے ده

سره دَ زلزله نه هیبت او کبراهټ مراد دے ۔

۲ :۔ په دے آیت کښ ذکر دَ هیبتِ شان دَ زلزلے دے نو که دَ زلزلے نه مراد اول تفسیر وی نو دا حالات چه په دے آیت کښ ذکر شوی دی په حقیقت باندے حمل دی او که دَ زلزلے دویم تفسیر وی نو دغه حالات په فرض او تقدیر باندے حمل دی یعنی فرض کړه که په هغه ورځ مرضعه او حامله موجود شی نو دا حال به ئے وی ۔

فائده :۔ مرضع او مرضعة دواړه لفظونه زنانو دَ پاره استعمالیږی لیکن فرق ئے دا دے چه په کوم وخت کښ یو له په خُله کښ سینه ورکوی نو دغه وخت کښ ورته مرضعة وئیلے کیږی او په عام حالتونو کښ ورته مرضع وائی نو مطلب دا دے چه یو له بچی ورکول دا ډیر دَ مینے حال دے لیکن دغه وخت به مور دَ خپل بچی نه غافله شی ځکه چه هیبت به ډیر زیات وی او دا رنګ ذات حمل او حامل دواړه صفات دَ زنانه دی لیکن فرق دا دے چه ذات حمل هغه زنانه ده چه حمل ئے ښکاره وی او نزدے وی پیدائش ته او حامل ورته په عام اوقاتو دَ حمل کښ وئیلے کیږی ۔ سُکٰرٰی ، سکر هغه نشه ده چه مسکر څیز دَ استعمالولو نه پیدا کیږی دلته اول سکاری مجازی دے او دویم په معنیٰ حقیقی سره مراد دے ۔

۳ :۔ دا زجر دے منکرینو دَ توحید او قیامت ته چه جدال کوی په سبب دَ ړوند تقلید کولو سره ځکه چه فرمائیلی دی وَيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ، مراد دَ شیطان نه انسی او جنی دواړه دی او مفسر ابن کثیر وئیلی دی دا حال دَ بدعتیانو ګمراهانو دے چه دَ ښکاره حق نه مخ کرځوی او دَ باطل تابعدارئ

عَلَيْهِ اَنَّهٗ مَنْ تَوَلَّاهُ فَاَنَّهٗ يُضِلُّهٗ

په باره دَ هغه کښې چه څوک دَ هغه تابعداري او کړي نو يقيناً هغه به ګمراه کوي دَ ده لره

وَيَهْدِيْهِ اِلٰى عَذَابِ السَّعِيْرِ ④ يٰۤاَيُّهَا

او بيائه کوي دَ ده عذاب دَ ګرم اور ته - اے

النَّاسُ اِنْ كُنْتُمْ فِيْ رَيْبٍ مِّنَ الْبَعْثِ

خلقو که تاسو يئ په شک کښې دَ دوباره ژوندے کيدو (نو واورئ دليل)

فَاِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ

چه يقيناً پيدائش شروع کړے مونږ ستاسو دَ خاورے نه بيا دَ نطفے نه

ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ

بيا دَ ټکړے دَ وينے نه بيا دَ ټکړے دَ غوښے نه چه پوره اندامونو والا ده

وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ ۭ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ

او بعضے کم اندامونو والا دي دَ دې دَ پاره چه وضاحت او کړو مونږ تاسو ته، او ساتو ئے په رحمونو کښې

مَا نَشَاۗءُ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ

څو مره وخت چه مونږ غواړو تر نيټے مقرر پورے بيا را او باسو تاسو لره

کوي پريږدي هغه چه الله تعالیٰ نازل کړيدي په رسول صلی الله علیه وسلم باندے او تابعداري کوي دَ مشرانو دَ ګمراهئ چه بلنه ورکوي بدعاتو ته په خپلو خواهشاتو او آراؤ سره - فِي اللّٰهِ په باره دَ توحيد دَ الله تعالیٰ کښې بِغَيْرِ عِلْمٍ نفي دَ هر علم مراد ده يعني دليل شرعي ورسره نشته -

سـ، نسبت دَ ګمراه کولو شيطان ته په سبب دَ وسوسو دَ هغه سره دے -
کُتِبَ، دَ کتابت نقل پرې مراد دے يا په معنیٰ دَ لزوم دے يعني دَ ده تابعداري کول مستلزم دي ګمراهئ لره - تَوَلَّاهُ، تابعداري او تقليد دَ هغه کوي را بن کثير - او مراد دَ عذاب نه سبب دَ عذاب دے چه کفر او شرک او ګناهونه دي -

طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا اَشُدَّكُمْ ۚ وَمِنْكُمْ

وارۀ بیا ر یالئ کوئ ستاسو، د پارہ د دے چه اورسیږی ځوانئ خپلے ته ، او بعضے ستاسو نه

مَّنْ يُّتَوَفّٰى وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرَدُّ اِلٰٓى اَرْذَلِ

هغه دی چه مړ کړی شی او بعضے ستاسو نه هغه دی چه اوګرځولے شی سپک

الْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ

عمر ته عاقبت داشی چه نه پوهیږی روستو د پوهے نه

شَيْـًٔا ۭ وَتَرَى الْاَرْضَ هَامِدَةً فَاِذَآ

په هیڅ خیز باندے، او وینے ته زمکے لره اوچه پرته پس کله چه

اَنْزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاۗءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ

را اوورووٗ مونږ په هغے باندے اوبه تیاره شی د پاره د زرغونے او بوګه شی

وَاَنْۢبَتَتْ مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝۵

او راټوکوی د هر قسم بوټی تازه ته۔

ف۵:۔ په دے آیت کښ اثبات د بعث بعد الموت او اثبات د توحید دے په دوه دلیلو تو عقلیو سره اول دلیل پیدائش د انسان په مختلفو اطوارو او انقلاباتو سره چه هغه شپږ دی تر وخت د پیدائش پورے بیا دوه حالتونه دی حال د ځوانئ او حال د ډیر بوډا والی (چه هغے ته هرم وائی) او ورسره ذکر د مرګ دے۔ مِّنْ تُرَابٍ، د دینه مراد پیدائش د آدم علیه السلام دے او ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ، نه مراد پیدائش د اولاد دے یا دا چه ټول انسانان د خاورو نه پیدا شوی دی ځکه چه خوراکونه ټول د خاورو نه پیدا کیږی او د خوراکونو نه بدن او وینه او بیا د هغے نه نطفه جوړیږی۔ لِّنُبَيِّنَ لَكُمْ، مفعول پټ دے یعنی کمال د قدرت زمونږ او حال د نطفے او علقے او مضغے باندے خلویښت خلویښت ورځے تیریږی۔ وَنُقِرُّ فِي الْاَرْحَامِ کښ دغه ورځو ته اشاره ده دا رنګ روستو د ساه اچولو نه هم څه موده په رحم کښ پاتے وی۔ طِفْلًا:۔ په یکښ معنیٰ د تابعدارئ ده تو بچے چه څو مره پورے د مور تابع وی

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّهٗ يُحْيِ

دا دليل دے پدے خبره چه الله تعالىٰ حق دے او يقينًا هغه به ژوندى كوى

الْمَوْتٰى وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٦﴾

مړو لره او يقينًا هغه په هر څيز باندے قدرت لرى.

وَّاَنَّ السَّاعَةَ اٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ

او يقينًا قيامت راتلونكے دے نشته شك په هغے كښ او يقينًا الله تعالىٰ

يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ﴿٧﴾ وَمِنَ النَّاسِ

ژوندى كوى به هغه څوك چه په قبرونو كښ دى. او بعضے د خلقو نه

هغے ته خوراك څښاك كښ محتاج وى نو ورته طفل وئيلے كيږى. مِنْۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْئًا، دا رنګ سوره نحل سره كښ تيرشوے وى (فرق) دا دے چه سورة نحل كښ بعد علم دے او دے آيت كښ من بعد علم دے يعنى كه لږ علم وى هغه به هم زائيل شى او كه ډير علم وى هغه به هم زائيل شى هر كله چه سورة نحل كښ پدغه آيت كښ دوه حالتونه ذكر كړيدى نو دا لږ علم دے او پدے آيت كښ ډير حالتونه ئے ذكر كړه نو دا ډير علم دے. والله اعلم بالصواب. وَتَرَى الْاَرْضَ، دَدے ځائے نه دويم دليل دے پيل اُش د بوټو د زمكے نه. او د هغے څلور حالتونه ئے ذكر كړے دى. او دلته خطاب مفرد ذكر كړيدے او تيرشوى دليل كښ خطاب ئے جمع ذكر كړيدے وجه دا چه د څپل پيل اُش په حالاتو باندے هر څوك خبر يدلے شى او د زمكے نه د بوټو زرغونيدلو په حال هر څوك نشى خبريدلے. اِهْتَزَّتْ، اهتزاز حركت كولو ته وائى يعنى تخم چه په زمكه كښ دننه پرسيږى نو زمكه ورسره خوزيږى. يا مراد د اهتزاز نه قابل كيدل د زمكے دى د پاره د بوټو راويستلو دا هم حركت حكميه دے. ملاحظه: پدے دواړو آيتونو كښ نتيجه د دليلونو مخكښو ذكر كوى په پنځو طريقو سره اوله نتيجه توحيد دے پدے جمله كښ. بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ د حق يو معنىٰ دا ده چه د هغه وجود يقينى دے تغير، تبديلى په هغه باندے نه راځى. دويمه معنىٰ دا ده چه د هغه بندګى كول او الوهيت حق دى. دويمه نتيجه. اَنَّهٗ يُحْيِ الْمَوْتٰى، يعنى د خاورو نه انسان

مَنۡ يُّجَادِلُ فِى اللّٰهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّلَا هُدًى

هغه څوک دی چه جګړه کوی په توحید د الله تعالیٰ کښی بغیر د پوهے نه او بغیر د هدایت نه

وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيۡرٍ ۝۸ ثَانِىَ عِطۡفِهٖ لِيُضِلَّ

او بغیر د کتاب رڼا کوونکی نه۔ تاوهي د ده خپله ډډه د پاره د ګمراه کړی نور خلق

عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ لَهٗ فِى الدُّنۡيَا خِزۡىٌ

د لارے د الله تعالیٰ نه، د ده د پاره په دنیا کښی شرمندګی ده

پیدا کولے شی او د زمکے نه تازه بوټی را ویستے شی نو مړی هم دوباره ژوندی کولے شی۔ دریمه نتیجه وَاَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ قَدِيۡرٌ. یعنی قدرت د الله تعالیٰ په پیدا کولو د انسان او د بوټو مستلزم دے قدرت لره په هر څیز باندے۔ څلورمه نتیجه وَّاَنَّ السَّاعَةَ، مراد د دیته ساعت د فنا د ټول عالم دے یعنی لکه چه هر انسان باندے فنا لاحق او هر بوټے او چیړی نو دا دلیل دے چه ټول عالم به فنا شی یا مراد د ساعت نه قیام د ورځ د حساب دے یعنی په انسانانو باندے د دے نعمتونو ذکر کړے شو د پاره ورځ د حساب به قائم شی چه په هغے کښی به د شکر د نعمتونو تپوس کیږی۔ پنځمه نتیجه وَّاَنَّ اللّٰهَ يَبۡعَثُ مَنۡ فِى الۡقُبُوۡرِ، لکه چه د خاورو نه ئے انسان پیدا کړو او د وچے زمکے نه شنه بوټی پیدا کړه نو دا رنګ د خاورو د قبرونو نه بیا هم انسان پیدا کولے شی۔ د بعث، معنیٰ روح په بدن کښی اچول دی روستو د راوتلو د قبر نه او مَنۡ فِى الۡقُبُوۡرِ نه بدن مراد دے یعنی بدنونو کښی بیا روح اچوی۔

۸:۔ پدے آیت کښی زجر دے په جدال کولو د اهل عنادو عناد یانو د حق سره او مراد د جدال فی الله نه جدال کول دی په توحید د الله تعالیٰ کښی او په باره د دوباره ژوندی کولو کښی۔ عِلۡمٍ نه مراد علم عقلی استعدادی دے۔ هُدًى نه مراد علم نقلی دے د هدایت والو نه۔ كِتٰبٍ مُّنِيۡرٍ، نه مراد کتاب وحی دے ځکه چه زیاتیه رڼا په کتاب د الله تعالیٰ کښی ده یعنی درے قسمه دلیلونه ورسره نشته یعنی اګرچه عالم دے لیکن جدال په حق کښی بے دلیله کوی۔

وَنُذِيقُهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿٩﴾

او او به څکوو دهٔ لره دَ قيامت په ورځ عذاب دَ اور سوځوونکی.

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ وَاَنَّ اللّٰهَ

دا په وجه دَ هغه عملونو چه وړاندے لیږلی دی لاسونو ستا او بیا وجه چه الله تعالیٰ

لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿١٠﴾ ع وَمِنَ النَّاسِ ع ١ ١٠ ٨

نه دے ظلم والا په بندګانو خپلو باندے. او بعضے دَ خلقو نه هغه دی

مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ فَاِنْ اَصَابَهٗ

چه بندګی دَ الله تعالیٰ کوی په شک باندے نو که اورسیږی دهٔ ته

خَيْرُ اِطْمَاَنَّ بِهٖ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ِ

خیر کلک شی په هغے او که اورسیږی دهٔ ته تکلیف

انْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ خَسِرَ الدُّنْيَا

اپوته شی په مخ خپل باندے، تاوانی کړه دهٔ دُنیا

٩ : عِطْفِهٖ، یو اړخ ته وتیلے کیږی یعنی اړخ ګرځوی دَ حق دَ اوریدلو نه دَ دے دَ پاره چه خپل مقلد پیرو لره ګمراه کړی لکه سورة انعام ١٢٦ کښ دی مفسر قرطبی دَ عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے چه دا (مذکور په دے آیت کښ) هر بن عتی دے. لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ، کښ اشاره ده چه دے لکه چه یخپله ګمراه دے نو نور خلق ګمراه کوی یعنی باطل پرست عالم دے. په نُذِيقُهٗ کښ اشاره ده چه دَ ګرم والی او سوزش احساس به کولے شی نشه یه نه وی. دے روستو دواړو جملو کښ تخویف دنیوی او اخروی دے.

١٠ : یعنی دَ عذاب دَ پاره دوه سببه دی یو عمل دَ مجرم او دویم عدم ظلم یعنی عدل دَ الله تعالیٰ. یعنی مجرم له سزا ورکول دَ الله تعالیٰ دَ عدل تقاضا ده او دا په سورة آل عمران ١٨٢ کښ هم تیر شوے دی. ظَلَّامٍ، صیغه دَ فاعل ذو کذا ده یعنی ذو ظلم. دا صیغه دَ مبالغے نه ده. او دَ ذٰلِكَ نه مخکښ یقال (او به وئیلے شی) پټ دے.

وَالْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ⑪ يَدْعُوْا
او آخرت لره ، دا تاوان دے ښکاره - رابلل به ئې کوي
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ؕ
سوا د الله تعالیٰ نه هغه چاته چه ضرر نشي ورکولے دهٔ ته او هغه چا ته چه نفع نشي ورکولے دهٔ ته
ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ⑫ يَدْعُوْا لَمَنْ
دا گمراهي ده لرے د حق نه - بلل به ئې کوي د هغه چا چه

سلا: لنکښ دوه قسمونه د خلقو بیان شول اوس دے آیت کښ دریم قسم ذکر کوي په طریقه د زجر سره او په دیکښ منافق او مفاد پرست مراد دے یعني دین اسلام مني یا د دین کارکوي د دنیا په غرض سره که د غه غرض حاصلیږي نو اسلام مني او عمل د دین کوي او که غرض دنیوي نه حاصلیږي نو بیا اعراض کوي۔ او د دے مصداق په دے وخت کښ ډیر موجود دے۔ توحید او سنت په دے غرض او مني چه مال د دنیا او عزت د دنیا به ملاؤ شي او قرآن لولي په دے اراده چه اجرت به ملاؤ شي جنازے له ورځي په دے نیت چه څه مال به حاصل کړي او چه دا مقصد ورته حاصل نشي نو بیا هیڅ نه مني او نه عمل کوي۔ حَرْفٍ په معنیٰ د شک دے یعني په توحید او دین باندے یقین نه لري۔ یا په معنیٰ د طرف او اړخ دے یعني په طرف او ډډه سره او سي پوره اسلام کښ نه داخلیږي۔ وَجْهِهٖ، نه مراد دین باطل دے خَسِرَ الدُّنْيَا، تاوان د دنیا دا دے چه په مسلمانانو کښ د منافقت د وجے نه ذلیل شي او نور خلق هم ورباندے اعتبار نه کوي۔ او تاوان د آخرت دا دے چه څه عبادتونه ئې په منافقت سره کړیدي هغه ټول به برباد شي۔ خَسِرَ، لازمي دے نو حرف د في پټ دے یا متعدي دے۔ خَيْرٌ نه مراد د دنیا فائدے دي۔ ښوے کیدل، مالدار کیدل، د بدن صحت، د دنیا عزت او اقتدار۔ فِتْنَةٌ نه مراد تکلیفونه دي یعني غریب شي، قحط راشي او اولاد ئې نه کیږي۔ بیمار شي، د امامت او تدریس یا د بل دنیوي مرتبے نه محروم شي۔
سلا: دا بیان د انْقَلَبَ دے یعني شرک کوي او دا رد دے په شرک في الدعاء باندے۔ يَدْعُوْا مراد د دے حاجتونه غوختل فریاد ونه کول مدد غوښتل روزي طلب کول دي (ابن کثیر)۔ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ، مراد دا دے

ضَرُّهٗۤ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ لَبِئْسَ الْمَوْلٰى

ضرر د بندګی ئ د هغه زیات نزدے دے د فائدے د هغے نه، خامخا ناکاره دوست دے

وَ لَبِئْسَ الْعَشِیْرُ ⑬ اِنَّ اللّٰهَ یُدْخِلُ الَّذِیْنَ

او خامخا ناکاره ملګرے دے۔ یقیناً الله تعالیٰ داخلوی به هغه کسان

چه په پریښودلو د دعا سره ضرر نشی ورکولے او دُعا کولو سره نفع نشی ورکولے یا مطلق نیشتوالے د ضرر او نفع رسولو مراد دے او دا غوره قول دے۔

۱۳:۔ دا هم رد دے په شرک فی الدعا باندے یا پدے کښ سبب د شرک ذکر کوی چه هغه تابعداری کول د مشرکانو دی یعنی رد دے په شرک فی الحکم باندے پدے آیت کښ اشکال دے په څو وجو سره اول دا چه تیرشوی آیت کښ د معبود من دون الله نه نفی د ضرر او د نفع کړیده او پدے آیت کښ ضرر او نفع ئے ورله ثابت کړیدی؟

جواب په دوه طریقو سره دے اول دا چه دے آیت کښ مراد مشرکان او مبتدعین پیران او ملیان دی چه خلق ګمراه کوی او خلقو ته بعضے دنیوی فائدے د مال او خوراک هم ورکوی لیکن د دغه خلقو ایمان او دین ته نقصان ورکوی نو ضرر ئے ډیر زر ورسیږی په نسبت د نفع نه. او په مخکښ آیت کښ هغه نیکان دی چه مشرکانو د هغوی عبادات کړیدی او هغوی ته علم نشته دے۔ دویم جواب دا دے پدے آیت کښ د ضرر نه مراد ګناه او عذاب دے چه د شرک په وجے سره مشرک ته رسیږی او د نفع نه مراد فائده ده په ګمان د مشرک کښ۔

دویم اشکال دا دے چه لَمَنْ ضَرُّهٗۤ په ظاهر کښ مفعول د یدعوا دے او لام خو په ابتداء د کلام کښ راځی او مفعول خو مینځ د جملے وی؟

اول جواب دا دے چه د یدعوا مفعول حذف دے یدعوا غیر الله، او لَمَنْ موصول سره د صلے نه مبتدا ده او لَبِئْسَ الْمَوْلٰى ئے خبر دے۔

دویم جواب دا دے چه د دے لام محل جمله صله ده (ضره اقرب) یعنی تقدیم ئے کړے شویدے او دا جائز دے په کلام د عربو کښ۔

دریم جواب دا دے چه یدعوا په معنیٰ د یقول دے او لمن آ ه

آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

چه ایمان ئې راوړے او عملونه ئې کړی دی په تابعدارئ دَ سنت جنتونو ته چه بهیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا

لاندے دَ هغے نه ویالے ، یقیناً الله تعالیٰ کوی هغه څه چه

يُرِيْدُ ﴿۱۴﴾ مَنْ كَانَ يَظُنُّ اَنْ لَّنْ يَّنْصُرَهُ

اوغواړی - هغه څوک چه ګمان کوی چه هیچرے به امداد او نکړی

مقوله ده او هغه جمله وی دَ هغے په صدر (اول) کښې لام داخلیدلے شی۔

دریم اشکال یدعوا مخکښې آیت کښې ذکر کړے شویدے نو په دے آیت کښې تکرار ولے اوکړو ؟

اول جواب :- یدعوا په معنیٰ دَ یطیع دے لکه په سورة النساء ۱۱۷ کښې دی یعنی طاعت کوی په شرک او بدعاتو کښې دَ مشرکانو مقتدا ګانو۔

دویم جواب :- یدعوا مکرر دَپاره دَ اظهار دَ کثرت دُعا دَ غیر الله دے۔

فائده :- هر کله چه مقتدا ګمراه کونکے دوه قسمه دے. یو لوے چه خلقو له دَ ځان نه دین جوړوی لکه چه پیر او مرشد ګنړلے کیږی نو هغه مولیٰ دے او دویم دَ شرک او بدعاتو ملګرے چه یل ملګری ته ګناه خائسته کوی او دَ هغه سره ملګرتیا کوی پیر یائی ورته و نیلے کیږی نو هغه عشیر دے۔

مسئله :- په دے آیت کښې څلورم قسم دَ خلقو ذکر دے چه هغه مؤمنان دی او دَ هغوی دَپاره بشارت اخرویه دے۔

اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيْدُ ، په دے کښې جواب دے که څوک وهم اوکړی چه الله تعالیٰ ولے بعضے خلق ګمراه کوی او بعضو ته هدایت کوی ؟

حاصل جواب دا دے چه الله تعالیٰ په خپله اراده سره دَ ډیر حکمتونو دَپاره کار کوی۔

اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ

اللہ تعالیٰ دَ دهٔ سره په دُنیا او آخرت کښې نو اوکښه دِ کړی رسئ

اِلَى السَّمَآءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ فَلْيَنْظُرْ هَلْ

آسمان ته بیا دے پریکړی نو اوو دے کوری آیا

يُذْهِبَنَّ كَيْدُهٗ مَا يَغِيْظُ ﴿۱۵﴾ وَكَذٰلِكَ

بوځی به دا چَل دَ دهٔ هغه څه لره چه دے ئے غصه کړی دے۔ او دا رنګ

ف۱۵:- دا آیت زجر دے او تعلق لری دَ ۱۱ سره او په دیکښې ډیر توجیهات دی اول ربط او توجیه دا ده چه هر کله دغه منافق ته په دین دَ محمد صلی اللہ علیه وسلم کښې فتنه او مصیبت اورسی او مدد دَ اللہ تعالیٰ تر ینه روستو شی نو دے ګمان کوی چه اللہ تعالیٰ دَ دے نبی سره امداد نه کوی او غصه شی رځکه چه دَ امتی سره نصرت نه کیدل دا دَ دے وجے نه چه دَ نبی سره نصرت نشته دَ دے سړی په خیال کښې) په دے تفسیر سره ضمیر دَ ینصره راجع دے مَنْ ته۔ دَ فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ نه مراد دا دے چه رسئ دے دَ چهت سره اوبزا نه کړی او خپل ځان له دے مرګ خفه کړی یعنی دا سړے که دَ غصے دَ وجے نه ځان هلاک کړی نو هیڅ فائده تر ے نه راځی نو ولے غصه کیږی نو هَلْ يُذْهِبَنَّ، استفهام انکاری دے۔ په دے توجیه سره مراد دَ آسمان نه چهت دے او ثُمَّ لْيَقْطَعْ په معنیٰ دَ مرګ خفه کولو (پهانسی کولو) دے۔

دویمه توجیه سره دَ ربط نه دا ده چه ذ دے منافقانو او مشرکانو دَ نبی صلی اللہ علیه وسلم سره دشمنی پیدا شویده او دوی غواړی چه اللہ تعالیٰ دِ دَ دے نبی سره هیڅ امداد اونکړی، نو امداد او وحی خو راځی دَ آسمان نه نو دے دِ دَ رسئ په ذریعه آسمان ته اورسی او دَ هغه ځائے نه دِ امداد قطع کړی آیا په دے تدبیر به دَ دهٔ مقصد حاصل شی؟ (نه حاصلیږی) په دے تفسیر ضمیر راجع دے نبی صلی اللہ علیه وسلم ته۔ او دَ ګمان نه مراد تمنا کول دی او سماء نه مراد آسمان دے۔ او قطع نه مراد بندول دَ وحی او دَ امداد الهی دی۔

أَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ

نازل کړیدے موږ دا قرآن آیاتونه واضح او یقینًا الله تعالی هدایت کوی

مَنْ يُّرِيْدُ ⑯ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

هغه چاته چه الله تعالی یئے اراده اوکړی. یقینًا هغه کسان چه ایمان والا دی

او هل یذهبن کښ استفهام انکاری دے.

دریمه توجیه دا ده چه ضمیر راجع دے دغه شخص ته یعنی دغه شخص چه فتنه او تکلیف کښ اخته شوے دے گمان کوی چه الله تعالی ما سره هیڅ کله امداد نه کوی او پدے باندے خفه او غصه وی نو دے دِ د غصے د وجے نه ځان پهانسی کړی او ځان دِ هلاک کړی نو د دهٔ پدے هلاکولو د دهٔ د غصے سبب نه زائیله کیږی.

څلورمه توجیه دا ده چه مراد د دینه هغه مؤمن دے چه په مصیبتونو کښ مبتلا شی او د دهٔ سره امداد نه کیږی نو دے د الله تعالی نه نا امیدی کوی او نزدے ده چه د توحید نه مرتد شی نو دهٔ لره دا علاج او تدبیر پکار دے چه سوچ اوکړی چه کله د الله تعالی ته دُعا کانے غواړی او آسمان سره یئے ربط وی او کله چه الله تعالی سره دا رابطه (بالفرض) پریږدی او دُعا کانے نه غواړی نو کوم حالت کښ به د دهٔ زړهٔ ته اطمینان حاصلیږی، ضرور دا ده چه په اول حال کښ به د دهٔ اطمینان وی نو پدے تدبیر سره د دهٔ غصه به زائیله شی پدے تفسیر کښ ضمیر د ینصره دغه شخص ته راجع دے.

فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ اِلَى السَّمَآءِ آه په طریقه د تمثیل سره دے او هَلْ يُذْهِبَنَّ، کښ استفهام تقریری دے لیکن دا توجیه د ظاهر نه ډیره بعیده معلومیږی.

۱۶. پدیکښ ترغیب دے قرآن کریم ته یعنی لکه چه موږ امر کړیدے په صبر سره او د نصرت وعده هم کړیده دغه شان موږ دا قرآن کریم هم د تسلئ او د هدایت او استقامت د پاره رالیږلے دے. یا لکه چه موږ اثبات د توحید او قیامت اوکړو په دلیلونو عقلیو سره دغه شان د دے د پاره موږ قرآن کریم نازل کړے دے. وَاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ یعنی قرآن کریم

وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّابِئِينَ وَالنَّصَارَىٰ

او هغه كسان چه يهوديان دي او صابيان او نصرى

وَالْمَجُوسَ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا إِنَّ اللَّهَ

او مجوسيان دي او هغه كسان چه شرك ئے كړيدے، يقينًا الله تعالىٰ

يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ إِنَّ اللَّهَ

به جدائى راولى په مينځ د دوى كښ په ورځ د قيامت، يقينًا الله تعالىٰ

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ

په هر څيز باندے حاضر ناظر دے. آيا نه گورے ته چه يقينًا الله تعالىٰ

كښ اگر چه د هدايت د پاره ښكاره آيات شته ليكن هدايت په اختيار او ارادے د الله تعالىٰ سره حاصليږى.

ربط:- په دے آيت كښ ذكر د فرقو مشهورو د خلقو دے چه يوه فرقه د مؤمنانو ده چه د آيات بينات ته فائده اخلى او نورے فرقے د دغه آيا تو نه اعراض كوونكى دى په دنيا كښ مشترك دى ليكن قيامت كښ به الله تعالىٰ د دوى په مينځ كښ فيصله اوكړى مؤمنان به جنت ته داخل كړى او نور به جهنم ته داخل كړى.

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ، دليل د يَفْصِلُ دے يعنى الله تعالىٰ په هر څيز خبر دے نو حقه فيصله به اوكړى.

فائده:- ابن عطيه په تفسير كښ د قتاده نه روايت كړيدے چه ټول اصول اديان شپږ دى پنځه د شيطان دى او يو د رحمٰن دے.

صَابِئُونَ، هغه قوم دے چه د ملائكو عبادت كوى او كعبے ته مخ كوى او توحيد (يخپل گمان كښ) منى او زبور كتاب لولى او ډيره تفصيل ئے په تفسير د سورة بقره كښ تير شوے دے.

او مجوسيان هغه دى چه د اور او رڼا او نمر او سپوږمۍ عبادت كوى.

وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا، په دے كښ غير كتابى شرك كوونكى مراد دى د هغوى بل نوم نشته ځكه ئے په اشركوا سره ذكر كړيدى نو مخكښ بعضو لوكښ هم شرك شته ليكن د اعطف د وجے د مغايرت د نوم نه دے.

يَسْجُدُ لَهٗ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي

سجده کوی هغه څوک چه په آسمانونو کښې دي او هغه څوک چه په

الْأَرْضِ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُوْمُ

زمکه کښې دي او نمر او سپوږمۍ او ستوري

وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ وَكَثِيْرٌ

او غرونه او ونې او ژوندي سر او ډير

مِّنَ النَّاسِ ؕ وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ؕ

د خلقو نه ، او ډيرو باندې پوره شوې ده فيصله د عذاب ،

وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ

او هغه څوک چه سپک کړي هغه لره الله تعالیٰ نو نشته هغه لره هيڅوک عزت ورکوونکی

اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ؕ (۱۸) سجدة هٰذٰنِ

يقيناً الله تعالیٰ کوي هغه څه چه او غواړي۔ دا دوه

خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ فَالَّذِيْنَ

ډلې دي چه جګړه کوي په باره د رب د دوی کښې پس هغه کسان

۱۸ :۔ دا آيت دليل عقلي دے چه سجود د ټول عالم الله تعالیٰ ته دليل دے د الله تعالیٰ په توحيد او په عظمت باندے او په آيت کښې هغه مخلوقات يې ذکر کړے دي چه مشرکانو د هغوی عبادت کړيدے نو د هغه معبودانو باطلو عجز بيانوي۔ ابن عطيه ذکر کړے دي چه حمير قبيلې د نمر عبادت کوو او کنانه د سپوږمۍ او تميم د دبران ستوري او لخم د مشتري ستوري او طي د ثريا او قريش د شعرى او اسد د عطارد او ربيعه د مرزم ستوري عبادت کوو او د غرونو او د ونو نه معبودان جوړوي۔

الدَّوَآبُّ ، کښې بقر او مار او چرګ داخل دے چه د هغوی عبادت کړے

كَفَرُوْا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ ؕ

چه کفر ئې کړی دی جوړولی په شی دوی دپاره (دډیرو ټکړو نه) جامې د اور

يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمُ الْحَمِيْمُ ﴿۱۹﴾

اچولی به شی پورته د سرونو د دوی نه یشیدلی اوبه۔

شوی دی۔ نو پدے آیت کښ دلو د مشرکانو ته اشاره ده په طریقه د رد کولو سره په هغوی باندے۔

وَكَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ، نه روستو لفظ د مرحومون پټ مراد دے۔ یا دا عطف دے په مَنْ فِي الْاَرْضِ باندے د قبیلې دعطف د خاص نه په عام باندے۔

وَكَثِيْرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ، نه روستو خبر حذف دے یعنی مهانون زلیلون او مراد په آیت کښ سجده په رضا او په توحید سره ده یا مراد د سجدے نه عام دے که طوعًا وی یا کراهًا نو د كَثِيْرٌ حَقَّ نه روستو تقدیر ته حاجت نشته دا په مخکښ باندے عطف دے۔

وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ، مراد د اهانت نه ترک د سجود الله دے۔

يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ، په فعل کښ اهانت او اکرام دواړه داخل دی۔

۱۹۔ هٰذٰنِ کښ اشاره ده هغه دوه فریقو مقابلینو ته چه ذکر شوی دی تیرشوی دواړه آیاتو نو کښ هغوی اگر چه ډیرے ډلے دی لیکن مرجع د هغوی دوه ډلو ته ده۔ او د دوی اختصام او اختلاف همیشه دے په باره د توحید د الله تعالیٰ او د صفاتو د هغه کښ یعنی د دوی اختلاف د دُنیا په مقاصدو باندے بناء نه دے۔ بیا یو فریق ته تخویف او بل فریق ته بشارت تفصیلًا ذکر کوی۔ او دا د دوی په مینځ کښ فیصله ده کوم چه په سکا کښ ذکر وه۔

قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّنْ نَّارٍ، مراد تر ینه دا دے چه د جهنم د جنس نه به د دوی دپاره جامے جوړولے شی لکه سورة ابراهیم ۵۰ کښ دی یا دا کنایه ده چه اُور به په دوی باندے داسے احاطه اوکړی لکه جامه په بدن باندے. او له وجه غوره ده۔ مِنْ فَوْقِ رُءُوْسِهِمْ، معنیٰ حقیقی مراد ده لکه غسل کول چه دی یا مراد تر ینه د دوی په خُلو کښ دغه او به په زور سره اچول دی۔

يُصْهَرُ بِهٖ مَا فِي بُطُوْنِهِمْ وَالْجُلُوْدُ ⑳

ویلې کیدلے به شي په هغې سره هغه څه چه دَ دوی په خېټو کښ دي او څرمنې۔

وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ㉑ كُلَّمَا

او دَوی (دَ وهلو) دَپاره ګرزونه دي دَ او سپینې نه۔ هر وخت چه

اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ

او غواړي چه او وځي دَ اور نه دَ غم دَ وجې نه

٢ ع ١٢ ٩ اُعِيْدُوْا فِيْهَا ۗ وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ㉒

واپس به ګرځولے شي په هغې کښ (وئیلے کیږي به) او څکئ عذاب دَ اور سوځونکی۔

سٹ۲۰۔ دَ دې تفسير په حديث دَ ترمذی کښ موجود دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائیلي دي چه حميم به دَ دوی دَ سرونو دَپاسه واړولے شي نو او به رسی دَ تنه خېټو دَ دوی ته نو دَ دوی دَ خېټو نه به لاندے او بهيږي تر خپو پورے او دا اصهر دے بيا به دوباره دَ دوی پښو ته جوړ کړے شي۔

وَالْجُلُوْدُ، دَ دے سره مناسب فعل پټ مراد دے يعني تحرّق او تشوی يعني څرمنې به او سوځولے شي يا وريتے به کړے شي۔

سٹ۲۱، سٹ۲۲:۔ لَهُمْ يعني يضربهم دَ دوی دَ وهلو دَپاره۔

مَقَامِعُ، دَ قمع نه ماخوذ دے ذليل کولو او ټکولو ته وئیلے کيږي يعني دَ ذليل کولو په طريقه به وهلے کيږي او تختيدو ته به ئے نه پرېږدی که صرف اراده دَ تختيدلو کوی نو په دغه ګرزونو سره به ئے وهی او دا رنګ سورة سجده سٹ۲۰ کښ دی۔

مِنْ غَمٍّ، مِنْ اجليه دے او غَمٍّ کښ تنوين دَپاره دَ عظمت دے غټ غم چه عذاب دَ اور دے۔

اُعِيْدُوْا فِيْهَا، واپس کولے به شي په وهلو دَ ګرزونو سره۔

اِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا

يقيناً الله تعالىٰ به داخلوي هغه كسان لره چه ايمان يې راوړے دے او عملونه يې كړي دي

الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

په تابعدارۍ د نبي سره جنتونو ته چه بهيږي به لاندے د هغې نه ولے

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ

خائسته كيدے به شي دوي په هغې كښ په بنګړو د سرو زرو

وَّلُؤْلُؤًا ۭ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾

او ملغلرے ، او جامے د دوي په هغې كښ به ريښم وي

وَهُدُوْٓا اِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ښ

او هدايت وركړے شوے د دوي پاك وينا ته ،

۲۳ ۔ مخكښ يو خصم يې ذكر كړو په طريقه د تخويف اخروي او س پسے آيت كښ ذكر د بل خصم دے په طريقه د بشارت اخرويه ۔ په تخويف كښ عذاب د شرمندګۍ او اهانت يې ذكر كړے وُو نو په دے بشارت كښ ډير اكرام او عزت يې ذكر كړے دے۔

اَسَاوِرَ به صرف په لا سونو كښ وي او وَلُؤْلُؤًا به په ټول بدان باندے وي ځكه يې لُؤْلُؤًا جدا ذكر كړو او داسے په سورة فاطر ۳۳ كښ دي۔او سورة دهر ۲۱ كښ فِضّة (سپين زر) ذكر كړيدي اشاره ده اقسامو د اساورو ته چه بعضے به ذهب د (سرو زرو) وي او بعضے به د سپينو زرو نه وي۔

سورة دهر كښ يې لوڅي د جنت هم د سپينو زرو ذكر كړي دي نو بنګړي يې هم د سپينو زرو ذكر كړے دي او په دے سورت كښ د تقابل د وجے د جنتيانو ډير اكرام مقصد وُو نو د دے وجے نه ذهب يې ذكر كړل۔

وَهُدُوٓا إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ

او هدایت ورکړے شوے وو دوی لارې د ستائیلے شوی ذات ته. یقیناً هغه کسان

كَفَرُوا۟ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ

چه کفر ئے کړیدے او منع کوی د لارے د الله تعالیٰ نه

وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ٱلَّذِى جَعَلْنَٰهُ لِلنَّاسِ

او د مسجد حرام نه هغه چه ګرځولے دے مونږ هغه د خلقو د پاره

سَوَآءً ٱلْعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلْبَادِ ۚ وَمَن يُرِدْ

برابر دیره په هغے کښ او مسافر او چا چه اراده اوکړه

فِيهِ بِإِلْحَادٍۭ بِظُلْمٍ نُّذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ

په هغے کښ د کږلیچ په ظلم سره او به څکوو هغه ته د عذاب

ع ۳ ۱۰ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾ وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَٰهِيمَ مَكَانَ

دردناک نه. او هر کله چه ځائے ورکړو مونږ ابراهیم علیه السلام ته په ځائے

س۲۴. دے آیت کښ سبب د بشارت ئے ذکر کړے دے طَيِّبِ الْقَوْلِ نه مراد کلمه د توحید ده. او صِرَاطِ الْحَمِيدِ، نه مراد قرآن پاک دے الْحَمِيدِ، اشاره ده چه دغه جنت والو په دُنیا کښ د الله تعالیٰ ډیر حمدونه وئیلی دی داسے حمدونه چه د قرآن کریم نه ئے ایزده کړے وی.

س۲۵. په دے آیت کښ تخویف دے هغه قسم کافرانو ته چه د هغوی کفر متعدی دے او تکاره خصومت کوی ځکه چه د سبیل الله نه منع کوی. وَيَصُدُّونَ، صیغه د مستقبل ئے راوړله اشاره ده چه دوی منع کول هر وخت کوی د دے وجے نه دا خاص نه دے په حدیبیه پورے لکه چه بعضے مفسرینو لیکلی دی.

وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، نه مراد خاص مسجد دے چه په هغے کښ په اتفاق د اهل علمو سره مقیم او مسافر برابر دی. او که د دے نه مراد ټول حرم وی په ذکر د جزء او مراد ترینه کُل وی نو د هغے

الْبَيْتِ أَنْ لَّا تُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا وَّطَهِّرْ

دَ بيت الله كښ (او ئيل موتږ) چه شريک مه جوړ وه ما سره هيڅ څيز او پاک سا ته

بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ

کور زما دَ پاره دَ طواف کوونکی او په ولاړه سره (عبادت کوونکو) او رکوع

السُّجُوْدِ ﴿٢٦﴾ وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ

سجده کوونکو لره - او اعلان او کړه په خلقو کښ دَ حج

په برابر والی کښ دَ علماؤ اختلاف دے او دا قیل دَ مزین قباحت دَ دوی دے چه داسے ځائے چه مقیم او مسافر پکښ برابر حقوق لری او دوی دَ هغے نه منع کول کوی۔

وَالْبَادِ، په اصل کښ البادی دۀ نو په وقف کښ یا حذف شوه په کتابت او تلفظ دواړو کښ۔ روستو لفظ پټ مراد دے دَ إِنَّ خَسِرُوْا وَهَلَكُوْا۔

وَمَنْ يُّرِدْ، کښ اشاره ده چه په حرم کښ په اراده دَ ګناه سره هم عذاب دے او دا دَ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے۔

بِظُلْمٍ، بآء سببیه ده او متعلق دے دَ يرد سره یا بآء په معنیٰ دَ الیٰ سره ده متعلق دے دَ الحاد سره عام دے شرک او کفر کول، ناحق قتل کول، ښکار کول ونے پریکول، بغیر دَ احرام نه داخلیدل (سره دَ اراده دَ عمرے یا حج نه) کنځل کول، قسمونه کول، وغیره۔ یعنی هر کله چه صرف اراده دَ ګناه سره په حرم کښ دَ عذاب استحقاق دے نو دَ دیته په منع کولو سره خود لوے عذاب استحقاق دے صحیح حدیث کښ وارد دی چه درے قسمه کسان الله تعالیٰ ته ډیر مبغوض دی اول دَ هغوی ته الحاد کوونکے دے په حرم کښ دویم طلب کوونکے په اسلام کښ طریقه دَ جاهلیت دریم طلب کوونکے دَ قتل دَ مسلمان۔

٢٦۔ خلاصه :۔ دَ دے آیت نه دویم باب دے تر ٣٨ پورے په دیکښ دلیل نقلی دے دَ ابراهیم علیه السلام نه دَ پاره دَ رد دَ شرک فعلی او تفصیلی بیان دَ مسائیلو دَ حج دے دَ پاره دَ توحید فعلی په تعظیم کولو دَ حرمات الٰهیه او تحلیل او دَ تحریمات غیر الله او تعظیم دَ شعائر الله او تحذیر دے

يَأْتُوكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ يَّأْتِيْنَ

تو راځي به تا ته پياده او سواره په هره تيز رفتاره سورلۍ چه راځي به

مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ ﴿٢٧﴾ لِّيَشْهَدُوْا مَنَافِعَ

دَ هرې لارې لرې نه ـ دے دَ پاره چه حاضر شي فائدو

دَ نذر دَ غيرالله او بيان دَ هلاکت دَ مشرک دے په تمثيل سره ۔
تفسير :- په دے آيت ٢٦ کښ دليل نقلي دے دَ ابراهيم عليه السلام نه دَ پاره دَ رد دَ شرک ۔ او هر کله چه تير شوی آيت کښ دَ الحاد في الحرام نه منع اوکړه نو دے آيتونو کښ دَ طاعةِ خاصه دَ حرم ذکر کوی او هر کله چه لوے مقصد دَ بناء دَ بيت الله دَ شرک ختمول دی نو دَ دے وجے نه بَوَّءْنَا ، ځائے دَ پاره دَ اقامت ورکول يا معنیٰ کول آنْ لَّا تُشْرِكْ، وقلنا لفظ پټ دے ۔
اَنْ لَّا تُشْرِكْ يَ ورسره ذکر کړو او آيت کښ طعن دے په مشرکينو دَ مکه باندے چه هغوی دَ خپل نيکه (ابراهيم عليه السلام) نه مخالفت کوی ۔ وَطَهِّرْ بَيْتِيَ ، تطهير دَ بيت الله عام دے دَ شرک او کفر او بدعاتو او نورو پليتو نه پاک ساتل ۔ او مقصود په دے سره اعلان دَ توحيد دے دَ پاره دَ دے چه څوک بيت الله په شرک سره پليت نکړی هم دا سے په سورة بقره ١٢٥ کښ تير شويدی هلته کښ يَ عکوف هم ذکر کړے وو ځکه چه دَ طواف نه روستو عکوف بهتر عبادت دے او دے سورت کښ عاکف يَ تير شوی آيت کښ ذکر کړے دے نو په دے آيت کښ يَ ذکر نه کړو ۔
لِلطَّائِفِيْنَ ، ابن کثير وئيلے دی چه طواف په ټولو عباداتو کښ ډير خاص دے په بيت الله پورے تونشي کيدے په هيڅ حصّه دَ زمکه کښ ماسوا دَ کعبے نه ۔ نو دَ قبرونو طواف کول حرام دی په اتفاق سره بلکه يره دَ کفرهٔ لکه چه بحرالرائق کښ ليکلی دی ۔
٢٧ :- روستو دَ اعلان دَ توحيد نه اعلان دَ حج دے ۔ په دے ترتيب کښ اشاره ده چه حاجی باندے دَ حج نه وړاندے دَ شرک پريخودل ضروری دی او دا رنګ اشاره ده چه حج دا سے عبادت دے چه په هغے کښ دَ توحيد عملی تعليم دے ځکه په دے کښ سفر کول کور دَ الله تعالیٰ نه په نيت دَ

لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ

خپلو ته او یاد کړي نوم د الله تعالیٰ په ورځو معلومو کښ

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ

په هغه څه چه ورکړي دي دوی ته الله تعالیٰ د څاروو نه.

فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿٢٨﴾

پس خورئ د هغې نه او خوراک ورکوئ مصیبت وهلي محتاج ته۔

عبادت سره او طواف کول دی او څاروی د الله تعالیٰ په نوم باندے نذر کول او د هغهٔ په نوم سره ذبح کول دی او دا ټول د توحید اعمال دی۔
رِجَالًا، ځکه مخکښ رادړو چه بعض علماؤ وئیلے دی چه پیاده حج کښ ډیر ثواب دے۔ لیکن راجح قول دا دے چه په سورلئ سره غوره دے ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم په سورلئ سره حج کړے دے تو رِجَالًا د پاره د تزدے خلقو دے او عَلٰی کُلِّ ضَامِرٍ د پاره د لرے خلقو دے۔
ضَامِرٍ هغه څاروی د سورلئ چه تری بدن والا وی چه ستړے کیږی نه په رفتار کولو باندے۔ یا هغه دی چه د ډیر سفر کولو په وجے سره تپ او لاغر شوی وی۔ په دیکښ یې د دریاب ذکر نه دے کړے ځکه دریاب د مکے سره متصل نه دے نو که په دریاب کښ راشی نو بیا به هم په اوچه باندے مزل کوی تربیتُ الله پورے۔
فَجٍّ، د غرونو په مینځ کښ فراخه لارے ته وئیلے کیږی او بیا د مکے ته هره لار داسے ده چه د غرونو په مینځ کښ راکوزیدل دی۔
٢٨: په دے آیت کښ بعضے مقاصد د حج ذکر کړیدی۔ مراد د منافع نه اخروی فائدے دی چه په اداء د مناسکو د حج سره حاصلیږی ثوابونه بخنه د گناهونو دعاگانے او د هغے قبولیت وغیره۔
وَیَذْکُرُوا، دا خاص حکمت د حج دے۔ یعنی ذبح په نوم د الله تعالیٰ سره خاص کول په خلاف د مشرکانو نه چه نذر او ذبح د غیر الله په نوم سره کوی نو په حج کښ تربیت د توحید حاصلیږی۔
اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ، د دے نه مراد ایام د قربانئ دی یوم النحر او دوه

ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ

بیا دے لرے کړی دوی خیری خپل او پوره دے کړی منختے خپلے

وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ ق

او طواف دے اوکړی دَبیت (کور) آزاد دا (یاد لرئ)

ورځ وریسے او څلورمه ورځ کښ اختلاف دے۔ فَكُلُوْا ته مراد دا دے چه دَ هغے نه ځان له خوړل حرام مه ګنړئ لکه چه مشرکانو حرام ګنړلو۔ خوراک کول دَ هغے نه سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم دے۔

اَلْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ، سخت اوږے محتاج۔ اَلْبَآئِسَ سره فقیر ځکه ذکر کړو چه کله اوږے وی لیکن مالدار وی خوراک نه کوی دَ څه عارض دَ وجے نه نو هغه لره دَ دے نه نه ورکوی۔

۲۹:۔ هرکله چه سورة بقره کښ اعمال دَ حج یے تر وقوف او رمی دَ منی پورے ذکر کړے وُو نو پدے سورت کښ دَ هغے نه روستو اعمال دَ حج ذکر کوی یعنی په منیٰ کښ دِ ذبح اوکړی نو بیا دِ حلق اوکړی او دا سنت ترتیب دے اول رمی دَ جمرهِ عقبه بیا ذبح کول بیا حلق کول بیا چه وس یے اورسی نو پدغه ورځ کښ طواف زیارت کول۔

وَلْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ کښ دا مراد دے۔ یعنی ویښته او نوکونه لرے کول په ورځ دَ نحر روستو دَ ذبح نه۔ او بیا دِ طواف فرض اوکړی۔ وَلْيَطَّوَّفُوْا کښ طواف فرض مراد دے۔

وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ، نور واجبات مراد دی که پخپله په ځان باندے نذر الٰهی منلے وی دَ مال یا دَ حیوان دَ ذبح په باره کښ نو دَ هغے وفا واجب ده او که دَ الله تعالیٰ طرف نه نور واجبات دَ حج وی۔

فائده:۔ وفا دلیل دے چه دَ نذر کړے شوے څیز نه په ځان له هیڅ نه خوری ځکه چه وفا پوره ورکولو ته وائی او دا دلیل دے چه دَ نذر وفا واجب ده۔

الْعَتِيْقِ، پدیکښ ډیر وجوه دی۔ اول دا چه عتیق په معنیٰ دَ زوړ دے او حدیث صحیح کښ دَ دے تائید دے چه دا اول مسجد دے چه په زمکه کښ جوړ کړے شوے دے او سورة آلعمران ۹۶ کښ هم دا سے

وَمَنْ يُّعَظِّمْ حُرُمٰتِ اللّٰهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهٗ

او چا چه تعظیم او کړو د حرمتونو د الله تعالیٰ نه نو دا غوره ده دهٔ لره

عِنْدَ رَبِّهٖ ۭ وَاُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ اِلَّا مَا

په نیز د رب خپل، او حلال کړے شوی دی تاسو لره څاروی مګر هغه چه

يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ

تلاوت کید یشی په تاسو باندے پس ډډه کوئ د پلیتئ نه چه بندګی

مِنَ الْاَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوْا قَوْلَ الزُّوْرِ ﴿۳۰﴾

د غیر الله ده او ډډه کوئ د دروغ ویناً نه۔

ذکر شویدی۔ د کریم په معنیٰ د آزاد ساتلے شوے د لاسونو د جابرانو ظالمانو نه تر قرب قیامت پورے او ترمذی روایت کړے دے په سند حسن د عبد الله بن زبیر رضی الله عنه نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی چه دے ته عتیق ځکه وئیلے کیږی چه نشی غالب کیدلے په دے باندے جبّار۔ او د دے تفصیل تفسیر قرطبی کښ موجود دے۔ د کریم دا چه آزاد دے د ملکیت د خلقو نه۔ څلورم دا چه په دے کښ ګنهګار خلق د ګناهونو نه آزادولے شی۔ پنځم دا چه عتیق په معنیٰ د کریم او شریف دے۔

۳۰:۔ په دے آیت کښ د حج نورے فائدے ذکر کولے شی چه تعظیم د محرمات الهیو دے او بل حکم د محرّمات د غیر الله دے په تحلیل د هغے سره او بل اجتناب د نذر د غیر الله نه۔ او بل اجتناب دے د شرکی الفاظ او د دروغ وئیلو نه یعنی په حج سره د دے امورو عمل او مشق ایزده کولے شی نو کوم الحاج چه د دے امورو پابندی او نکړی معلومیږی چه هغه حج نه دے کړے۔

حُرُمٰتِ اللّٰهِ، نه مراد هغه څیزونه دی چه الله تعالیٰ په حال د احرام او په حرم مکه کښ حرام کړے دی مثلاً ښکار کول د حرم بوټی پریکول ما سوا د سر ګری نه۔ او د هغے د تعظیم نه مراد د هغه کارونو نه ځان ساتل دی کوم چه

حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ وَمَنْ يُّشْرِكْ

کلک شئ په اخلاص کولو الله تعالیٰ ته مه کیږئ شرک کوونکی د هغه سره او چا چه شرک اوکړو

بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ

د الله تعالیٰ سره نو ګویا چه دے را اوغورځیدلو د آسمان نه پس اوتختوئ ده لره

الله تعالیٰ منع کړے دی۔

وَ اُحِلَّتْ لَكُمُ الْاَنْعَامُ، په دیکښ رد دے په تحریم د غیر الله بانډے چه مشرکانو د الله تعالیٰ د تحریمانو په مشابهت سره د ځان نه څه څاروی په ځان بانډے حرام کړی وُو او د هغے تفصیل په سورة مائده کښ تیر شوی دے.

اِلَّا مَا يُتْلٰى، نه مراد هغه څاروی دی چه الله تعالیٰ په عام اوقاتو کښ حرام کړے وی لکه مردار، خنزیر وغیره او د هغے حرمت ئے ډیرو آیاتو کښ ذکر کړے دے ۔ نحل، بقره، مائده، انعام ۔

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ، وثن په معنیٰ د هر معبود مِنْ دُوْنِ الله دے که بُت وی او که صلیب د نصارٰی وی (لکه چه حدیث د عدی بن حاتم رضی الله عنه کښ صلیب ته ئے وثن وئیلے دے)، او که قبر وی حکه چه حدیث صحیح کښ وارد دی اللهم لا تجعل قبری وثنا یعبد ۔ یعنی د کوم قبر چه عبادت کیدلے شی (سجدے نذرونه طوافونه وغیره) نو هغے ته هم وثن وئیلے کیږی لکه چه البلاغ المبین کښ ذکر دی او مراد د مِنَ الْاَوْثَانِ نه عبادت کول د اوثانو دی مثلاً کوم څیز چه د وثن په نامه نذر کړے شی نو هغه پلیت دے ۔ او تفسیر د ابن عطیه کښ داسے لیکلے دی چه دا اشاره هغه ذبحو کولو ته ده چه د پاره د اوثانو وی۔

مِنَ الْاَوْثَانِ کښ مِنْ بیانی دے نو معنیٰ دا چه رجس عبادت د اوثانو دے یا مِنْ ابتداء د پاره دے نو معنیٰ عامه شوه یعنی هر هغه پلیتئ نه ځان اوساتئ چه د عبادت د اوثانو (یعنی د شرک) نه پیدا کیږی۔

قَوْلَ الزُّوْرِ، هر هغه وینا ته وئیلے کیدے شی چه د حق نه اوړیدلے وی چه هغه د شرک کلمات دی لکه خبره د تحریم د غیر الله یا خبره د نذر د غیر الله او دا رنګ شهادت د دروغ وئیل۔ دا قول د عامو مسلمانانو وخاصکر په حاجیانو بانډے ډیر ضروری دے۔

الطَّيۡرُ اَوۡ تَهۡوِيۡ بِهِ الرِّيۡحُ فِيۡ مَكَانٍ

مارغان يا خكته او غورځوي دهٔ لره سيلئ په مکان

سَحِيۡقٍ ﴿۳۱﴾ ذٰلِكَ وَمَنۡ يُّعَظِّمۡ شَعَآئِرَ

لرے کښ۔ دا یاد کړئ او چاچه تعظیم او کړو دَ خاص نخو چه

اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنۡ تَقۡوَى الۡقُلُوۡبِ ﴿۳۲﴾

الله تعالیٰ مقرر کړے دی نو یقینًا دا تعظیم دَ اخلاص نه زړونو دے۔

۳۱:۔ حُنَفَآءَ کښ اشاره ده چه اجتناب دَ اوثان او دَ قول الزور نه په سبب دَ حنیفیت سره کول ضروری دی نه دَ وجے دَ خپل خواهش یا دنیوی مقاد اتو نه۔ حنیف پریخودونکے دَ دین باطل او کلک په دین حق باندے۔ وَمَنۡ يُّشۡرِكۡ ، دا مثال دَ ذلت او دَ هلاکت دَ مشرک دے چه دَ هغه دَ نجات هیڅ طریقه نشته لکه څه رنګ چه یو انسان دَ آسمان نه را او غورځیږی او مارغان ئے پوټی پوټی کړی یا دَ بیابان په یو ډونګے کنده کښ او غورځیږی او تفصیل دَ مثال ابن قیم رحمه الله دا سے لیکلے دے چه توحید په مثال دَ آسمان دے په هغے کښ نمر، سپوږمۍ ستوری شته نو چاچه شرک او کړو نو دَ توحید نه محروم شو او دَ قرآن کریم او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم او طریقے دَ صحابه کرامو نه خکته را او غورځیدو او خکته غورځیدل اشاره ده ډیر ذلت ته او مشرکان ملایان او پیریان په مثال دَ مارغانو دی یعنی دَ هغوی په لاسونو کښ پریوتو نو هغوی دَ دهٔ ایمان، عزت، حیا، غیرت او مال پوټی پوټی کړو یا که دَ دوی په لاس کښ رانشی نو په دهریت او بے دینئ کښ اخته شی چه دَ الله تعالیٰ او دَ دین نه بالکل انکاری شی او دواړو حالتونو کښ په دنیا او آخرت کښ ذلیل شی۔

۳۲:۔ شَعَآئِرَ اللّٰهِ، هغه څیزونه دی چه خاص وی په دین دَ الله تعالیٰ پورے او هغه علامات دی دَ دین دَ الله تعالیٰ ،یعنی کعبة الله ،صفا ومروه منیٰ ،عرفات، مزدلفه شعائر الله دی. او دلته دا مراد دی دا رنګ هدایے دَ حرم او قلائد او مساجد او عبادات شرعیه ظاهر شعائر الله دی۔

لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى ثُمَّ

تاسو لره په دغې كښې فائدې دي تر نيټې مقرر پورې بيا

مَحِلُّهَآ إِلَى الْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ

انتها د دې (فائدو) د بيت الله آزاد سره ده. او د پاره د هر امت

جَعَلْنَا مَنسَكًا لِّيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ

مقرر كړې ده موږ طريقه د قربانۍ د دې د پاره چه ياد كړي نوم د الله تعالىٰ

يا دلته مراد تر ينه هغه څاروي دي چه حرم ته بوتللې كيږي د پاره د هديې او ذبح كولو، د هغې تعظيم د هغې آداب شرعيه آدا كول دي او د هغې د هتك او بې عزتۍ نه ځان بچ كول دي او د هغې ځائسته كول او خوراك څښكاك وركول دي.

تَقْوَى الْقُلُوبِ، دا حقيقي تقوىٰ ده ځكه چه حديث صحيح كښې وارد دي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل تقوىٰ دلته كښې ده او اشاره يې اوكړله زړه ته. يا تقوىٰ په معنىٰ د اخلاص ده ځكه چه د هر اندام تقوىٰ د هغې مناسب وي.

۳۳. كه مراد د شعائر نه عام مواقف د حج وي نو په هغې كښې منافع د هغې وقوف او عبادات ادا كول دي لكه وقوف د منىٰ او د عرفې او د مزدلفې. او أَجَلٍ مُّسَمًّى نه مراد آخري وخت شرعي د وقوف دې په هر موقف كښې چه هغه په احاديث صحيح سره ثابت دي. او مَحِلُّهَآ نه مراد منتهىٰ د دغې اعمالو طواف د بيت الله دې چه هغه طواف وداع ته اشاره ده او دا معنىٰ امام مالك مؤطا كښې ذكر كړې ده. او كه مراد د شعائر الله نه صرف څاروي د هديې وي نو د أَجَلٍ مُّسَمًّى دوه معنې دي اوله معنىٰ روانول په نيت د هديې يعنى د دغه روانولو نه وړاندې په هغه څاروو باندې سورلي كول د هغې نه بې ئ لشل د هغې نه وړيځ، وړيخته پشم پريكول جائز دي او دويمه معنىٰ د أَجَلٍ مُّسَمًّى نه يوم النحر ده يعنى د دغه څاروو نه د حاجت او د ضرورت په وخت كښې فائده د سورلۍ وغيره جائز ده تر يوم النحر پورې.

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ؕ

په هغهٔ باندے چه الله تعالیٰ ورکړی دی دوی ته دَ چارپایانو دَ څاروؤ نه،

فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَلَهٗۤ اَسْلِمُوْا ؕ

حُکه چه حقدار دَ بندګئ ستاسو یو ذات دے نو خاص هغه ته اخلاص کوئ،

وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ﴿۳۴﴾ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ

او زیری ورکړه ځان کوزکښته کونکو ته۔ هغه خلق چه هرکله یاد کړیشی الله تعالیٰ

مَحِلُّهَاۤ نه مراد ځائے دَ حلالے او ذبح کولو دے۔ بَيْتِ الْعَتِيْقِ نه مراد حرم دے او په هغے کښ خاص منیٰ کښ ذبح کول افضل دی۔

سـ ۳۴ :۔ روستو دَ ذکرکولو دَ احکامو دَ ذبح دَ هدایانو ترغیب دے دغه حکم ته چه دا حکم په ټولو امتونو کښ دے، منسک نه مراد عبادت دَ ذبح دَ قربانئ او دَ هدیے دے بیا دَ دے حکم فائده بیانوی لیذکروا سره یعنی چه تمام انسانان عادت شی په ذکر دَ اسم دَ الله تعالیٰ په څاروؤ باندے چه چرته دَ غیرالله په نوم ئے نذر یا ذبح نه کړی بیا دَ دے علت ئے ذکر کړو۔ فَاِلٰهُكُمْ آه یعنی نذر او ذبح دَ الله تعالیٰ په نوم پورے ځکه خاص ده چه هغه یواځے حقدار دَ بندګئ دے شریک ئے نشته بیا عام امر دے دے امت ته په کلکوالی سره په توحید باندے په فله اسلموا سره بیا بشارت دے۔

مُخْبِتِيْنَ، نه مراد تواضع کوونکی او غاړه ښکته لرونکی حکم دَ الله تعالیٰ ته او عمرو بن اوس نه عطیه او قرطبی نقل کړیدی مخبتون هغه خلق دی چه ظلم نه کوی او که چرے په دوی باندے ظلم اوکړے شی نو انتقام (بدله) نه اخلی۔ او بشر ئے مطلق ذکر کړو دَ پاره دَ عظمت دَ بشارت۔ فائده :۔ هرکله چه ټول مناسک دَ حج په تواضع او په عاجزئ سره اداکیږی یعنی دوه چادرے دَ احرام، بربنډ سر، په خپو کښ ادنیٰ پیزار په زمکه باندے خوب کول وغیره دا ټوله تواضع ده نو دَ دے وجے نه په دے سورت کښ مخبتین ئے ذکر کړو۔

وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى

او يرېږي زړونه د دوی او صبر کوونکي وي په

مَآ اَصَابَهُمْ وَالْمُقِيْمِي الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا

هغه مصيبت چه دوی ته رسيدلے وي او پابندي کوونکي د مونځ دي او د هغه نه

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَالْبُدْنَ جَعَلْنٰهَا

چه مونږ دوی ته ورکړيدي خرچ کوي۔ او غټ څاروي (اوښان) کړځولے دي مونږ هغه

لَكُمْ مِّنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ

تاسو لره د خاص نخو د الله تعالٰی نه تاسو لره په هغے کښ فائدے دي

فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ ۚ

نو ياد وئ نوم د الله تعالٰی په هغے باندے په داسے حال کښ چه ولاړے

۳۵:۔ د دے د بعضے صفاتو تفصيل په ابتداء د سورة الانفال کښ بيان شوے دے په ۲ کښ۔
هر کله چه د قلب احوال زر زر بدليږي نو د دے وجے نه اول صفت ئے په صيغه د فعل مشروط سره ذکر کړو او صبر او اقامة الصلوٰة چه هر وخت مطلوب وي نو هغه ئے په اسم سره ذکر کړل او انفاق هم کله کله وي نو هغه ئے په صيغه د فعل سره ذکر کړو۔
او د دے آيت په تفسير کښ امام قرطبي سخت رد کړے دے په مبتدعين پيرانو ذاکرينو چه په وخت د ذکر د الله تعالٰی کښ په هغوی جن په راځي او تو پونه او چغے وهي او دے ته وجد وائي دا قول د صحابه کرامو د صفاتو نه مخالفت دے بلکه دا يو قسم ليونتوب دے او دا شيطاني اعمال دي۔
ابن جوزي رضي الله عنه تلبيس ابليس کښ د حسن بصري نه نقل کړيدي چه د داسے خلقو سره زمونږ شرط دا دے چه دوی دِ د کوهي په غاړه باندے يا په بلې د کوټے باندے کيني او بيا دِ ذکر الهي اوکړي او په دوی دِ جن په او وجد راشي۔

فَإِذَا وَجَبَتْ جُنُوبُهَا فَكُلُوا مِنْهَا

پس هر کله چه را وغورځیږي اړخونه دَ هغوی نو خورئ دَ هغې نه

وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ ۚ كَذَٰلِكَ

او خوراک ورکوئ گناره کوونکی ته او حرصناک ته دغسې

سَخَّرْنَاهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٣٦﴾

تابع کړیدي موږ دا څاروي ستاسو فائده له دے دَپاره چه شکر اوکړئ۔

لَنْ يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا

هیچرے نه رسي الله تعالیٰ ته (دَ قبولیت دَپاره) غوښے دَ دوی او نه وینے دَ دوی

ف٣٦۔ هر کله چه وړاندے ذکر دَ عامو شعائر الله ئے اوکړو بیا ذبح دَهدیے او قربانئ ته ئے ترغیب بیان کړو او دَ هغے شرط دَ ذبح ئے بیان کړو بیا دَ دے احکامو دَ پابندئ کوونکو صفات ئے بیان کړل، نو اوس په دے آیت کښ دَ بعضے شعائر الله (چه هغه اوښان دَ هدیے دي) دَ هغوی احکام بیانوي۔ اول حکم دَ شعائر الله نه دے نو تعظیم ئے ضروري دے۔ دویم حکم دَ دے دَ ذبح کولو په طریقه شرعیه سره خیر او ثوابونه دي۔ یعنی فی ذبحها و فی تعظیمها (دَ دے په حلالولو کښ په شرعي طریقے سره او دَ دے په تعظیم کښ)۔ دریم حکم ذکر دَ بِسْمِ الله دے په وخت دَ نحر کولو په ولاړه باندے ځکه چه نحر دَ اوښانو په حالت دَ ولاړوالي کښ سنت دے۔ څلورم حکم کله چه مړه شي نو په مزکه راپریوځي نو دَ هغے نه خوړل پخپله او محتاجانو ته ورکول۔ پخپله دَ خوړلو امر دَ پاره دَ مخالفت دَ مشرکانو دے چه هغوی دَ دے هدیے نه خوړل جائز نه گڼل۔ قَانِعْ امام مالک نه قرطبي نقل کړیدي چه قانع فقیر دے (ځکه چه په لږه باندے قناعت کوي) او مُعْتَرّ هغه دے چه ځان پیش پیش کوي او دَ ملاقات کولو په بهانه سوال کوي که ښکاره کوي او که چپ کوي۔ تَشْكُرُونَ، نه مراد په دے ځائے کښ عمل کول دَ ذبح او دَ نحر دي دَ حکم شرعي مطابق لکه چه مخکښ ذکر شول۔

وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ ؕ كَذٰلِكَ

او لیکن رسی هغه ته (قبولیت سره) اخلاص ستاسو نه دغسې

سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى

تابع کړي دي الله تعالی دا څاروي ستاسو دپاره دپاره چه تکبير اوائي په هغې باندې

مَا هَدٰىكُمْ ؕ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۷﴾

په هغه طريقې سره چه خودلې ده الله تعالی تا سو ته، او زيرې ورکړه خائسته عمل کوونکو ته.

اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ؕ

يقيناً الله تعالی اړوی دَ جنګ دَ مؤمنانو نه (کافرانو لره).

۳۷. په دې آيت کښ ذکر دَ اخلاص دې چه هغه شرط دَ قبوليت دې په هر عمل کښ او په دې کښ اشاره ده چه کومه هديه او قرباني دَ اخلاص او اتباع سنت نه خالي وي نو هغه صرف غوښه او وينه ده.

كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا، دا ذکر دَ لوې انعام دې چه دا قدرت دَ الله تعالی دې چه دَ کمزوري انسان دَپاره ئې لوې قوي حيوان تابع کړي دې مخکښ آيت کښ هم تسخير بيان شو دَپاره دَ دې چه بسم الله وربانده ذکر کړې شي او په دې آيت کښ ئې هم ذکر کړلو دَپاره دَ دې چه الله اکبر هم دَ بسم الله سره يو ځاې ذکر کړې شي. او مخکښ آيت کښ جعلناها متکلم ذکر وو نو سخرنا ئې هم په صيغه دَ متکلم ذکر کړې دې او په دې آيت کښ لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ په صيغه دَ غائب سره ذکر دې نو سخرها ئې هم په صيغه دَ غائب سره ذکر کړو. دَ اَلْمُحْسِنِيْنَ نه هغه خلق مراد دي چه تير شوي احکام په احسن طريقه (يعني په شرعي طريقې) سره ادا کوي دَ بدعاتو خلط ورسره نه کوي. او اخلاص کوونکي وي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾

یقینًا الله تعالیٰ مینه نه کوی دَ هر خیانت کر ناشکره سره.

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ

(اجازت) اعلان کړے شوے هغه کسانو ته چه هغوی سره جنګ کیدیشی (د جنګ کولو) په سبب د دے چه په

وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

او یقینًا الله تعالیٰ دَ دوی په مدد کولو باندے خامخا قدرت لری.

۳۸ : (خلاصه) دَ دے آیت نه تر ۵۸ پورے دریم باب دے په دیکښ ترغیب دے قتال ته سره دَ ذکر کولو دَ علتونو دَ هغے نه او صفتونه دَ مجاهدینو دی. بیا تسلی ده سره دَ تخویف دنیوی نه په ذکر دَ هلاکت دَ اقوامو مکذبو. بیا اتم زجر دے په نه عذاب خوختلو سره او تخویف دنیوی دے. بیا اثبات دَ رسالت او بشارت او تخویف دے بیا عداوت دَ شیطان ئے ذکر کړیدے چه دوی شبهات اچوی او الله تعالیٰ ئے زائل کوی او حکمة دَ شبهاتو اچولو او حکمة دَ ازالے ئے ذکر کړیدے بیا تخویف او بشارت دے.

تفسیر : ۳۸ : په دیکښ تسلی ده مؤمنانو ته یعنی که دوی سفر دَ حج یا دَ جهاد کوی نو الله تعالیٰ به دَ دوی دَ کورونو او دَ اهل وعیال حفاظت کوی او دَ دوی دَ نفسونو حفاظت به هم کوی. ځکه چه دوی دَ الله تعالیٰ دوستان دی او دَ دوی دشمنان چه خَوَّانٍ كَفُورًا دی هغه دَ الله تعالیٰ هم دشمنان دی نو ظاهره خبره ده چه الله تعالیٰ به دَ خپلو دوستانو دَ دشمنانو نه حفاظت او مدافعت کوی. خَوَّانٍ ډیر خیانت کر هغه دے چه دَ الله تعالیٰ دَ دوستانو په اهل وعیال او مال کښ خیانت کوی. او كَفُورًا ځکه دے چه الله تعالیٰ په ده باندے انعامات کړیدی او دے دَ هغے ناشکری کوی.

۳۹ : په دے آیت کښ ئے دَ مدافعت یوه طریقه او خودله یعنی الله تعالیٰ به ستاسو حفاظت کوی لیکن تاسو هم دَ دین دَ الله تعالیٰ او دَ خپلو ځانونو حفاظت کوئ په قتال کولو سره او تفسیر قرطبی کښ لیکلی دی چه دا اول آیت دے چه نازل شویدے په باره دَ قتال کښ لیکن په دے آیت کښ صرف أُذِنَ یعنی اباحت دَ قتال دے او فرضیت ئے په قَاتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ سره

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ

دا هغه کسان دي چه ويستلے شوے دي دَ کورونو خپلو نه

بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ ط

بغير دَ جرم شرعي نه ماسوا دَ ديته چه دوي وائي رب زمونږ الله تعالیٰ دے

وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم

او که نه وے اړول دَ الله تعالیٰ خلقو لره بعضو لره

بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ

په بعضو سره خامخا نړولے شوے به وے ګرجے دَ راهبانو او عبادت خانے دَ نصاریٰ

وَصَلَوَاتٌ وَمَسَاجِدُ يُذْكَرُ فِيهَا

او عبادت ګاهونه دَ يهوديانو او جماعتونه دَ مسلمانانو چه ياد ولے شي په هغے کښې

اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ط وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن

نوم دَ الله تعالیٰ ډير ، او خامخا مدد کوي الله تعالیٰ دَ هغه چا سره

يَنصُرُهُ ط إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾ الَّذِينَ

چه مدد کوي دَ دين دَ هغهٔ سره ، يقيناً الله تعالیٰ قوت والا دے زورور دے ـ دا هغه خلق دي

دَ دينه روستو کړيدے او پديکښ درے علتونه ذکر کړے شول اول يُقَاتَلُونَ ، دويم بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ، دريم وَإِنَّ اللَّهَ آه ـ

فائده :ـ مفسر قرطبي ليکلے دي چه اباحت حکم شرعي دے نو هغے له دليل شرعي پکار دے دا رنګ مسلم الثبوت کښې هم دي ـ

ف٤ :ـ دا بيان دَ مظلوميت دَ هغوي دے او بل علت دے دَ پاره دَ اذن دَ قتال کولو او دا رنګ دا علت دے دَ نصرت الٰهي دَ هغوي سره ـ او دا آيت دليل دے چه مؤحدينو سره دُشمني دَ وجے دَ توحيد نه ده لکه چه په سورة اعراف ف١٢٦ او سورة حم مؤمن ف٢٨ او سورة بروج ف٨ کښې دي ـ وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ دا بل علت دَ اذن دَ

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَوٰةَ

کچرے طاقت ورکړو موږ دوی ته په زمکه کښې پابندی به کوی دَ مونځ

وَآتَوُا الزَّكَوٰةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا

او ورکوی به زکوٰة او بیان به کوی دَ نیکۍ او منع به کوی

عَنِ الْمُنكَرِ ۗ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ﴿٤١﴾

دَ بدۍ نه ، او خاص الله تعالیٰ لره دے انجام دَ ټولو کارونو۔

قتال دے او دَ نصرت دے یعنی قتال کول او نصرت دَ الله تعالیٰ دَ مجاهدینو سره دَپاره دَ حفاظت دَ مرکزونو دَ توحید دی۔ او تفسیر قرطبی کښې ذکر دی چه آیت په اعتبار دَ لفظ سره عام دے، نورو معانیو ته هم شامل دے یعنی که نه وے دفع کول دَ الله تعالیٰ ظلم دَ ظالمانو په حاکمانو عادلانو سره۔ او که نه وے دفع کول دَ هغۀ چاچه مساجد وته نه ورځی په اهل مساجدو سره۔ او که نه وے دفع کول دَ عذاب الهی په دعاګانو دَ صالحینو سره۔ او دارنګ که نه وے دفع کول دَ شرک او کفر او بدعاتو او فسق وفجور په دعوت او تبلیغ دَ اهل حق سره۔ لَّهُدِّمَتْ، هدم ظاهری نړیدل دَ آبادۍ دی او هدم معنوی خالی کیدل دی دَ عباداتو دَ الله تعالیٰ نه په طریقه دَ توحید او سنت سره، دواړه معانے مراد دی او دا مذکور عبادت خانے دَ اهل شرائعو دی چه هغوی دَ تحریف دَ دین نه مخکښې په هغې کښې شرعی عبادتونه کول ځکه چه په دغه ټولو دینونو کښې مخکښې دَ تحریف نه توحید وو۔

كَثِيرًا، دَ ډیر نه مراد هغه ذکر الهی دے چه په شرع کښې ثابت وی اګرچه لږ وی او کوم ذکر چه غیر شرعی وی نو که ډیر وی لیکن هغه لږ او بے اعتباره دے۔ مَن يَنصُرُهُ، په دیکښې اشاره ده چه نصرت دَ دین او دَ رسول دَ الله تعالیٰ دا نصرت دَ الله تعالیٰ دے یعنی دَ الله تعالیٰ په ډله او جماعت کښې شمولیت دے اګرچه الله تعالیٰ نصرت ته محتاج نه دے۔

٤١:۔ دا صفت دَ مجاهدینو دے او دَ ضحاک رضی الله عنه نه روایت دے چه دا کارونه الله تعالیٰ لازم کړی په هغه چا باندے چه بادشاهی

وَاِنْ يُّكَذِّبُوْكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

اوكه دوى تاته دروغژن وائي نو يقينًا دَ دروغو نسبت كړے وؤ مخكښ دَ دوى نه

قَوْمُ نُوْحٍ وَّعَادٌ وَّثَمُوْدُ ﴿۴۲﴾ وَقَوْمُ اِبْرٰهِيْمَ

(خپلو پيغمبرانو ته) قوم دَ نوح عليه السلام او عاديانو او ثموديانو۔ او قوم دَ ابراهيم عليه السلام

وَقَوْمُ لُوْطٍ ﴿۴۳﴾ وَّاَصْحٰبُ مَدْيَنَ وَكُذِّبَ

او قوم دَ لوط عليه السلام۔ او اوسيدونكي دَ مدين، او نسبت دَ دروغو كړے شوے وؤ

مُوْسٰى فَاَمْلَيْتُ لِلْكٰفِرِيْنَ ثُمَّ اَخَذْتُهُمْ

موسىٰ عليه السلام ته پس مهلت م وركړو كافرانو ته بيا او نيول ما هغوى لره

فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۴۴﴾ فَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ

پس څه رنګ شو عذاب زما هغوى لره۔ پس ډير دَ كلو نه

ئے ورله وركړي وي۔ او دا رنګ دا كارونه دَ دوام دَ نصرت الٰهيه دَ پاره دي. دا مقصد نه دے چه تمكين نه روستو به صرف دا څلور كارونه كوي بلكه ټول نظام شرعي به نافذ كوي۔ او دَ اقامة الصلوٰة و ايتاء الزكوٰة نه مراد عام جاري كول دَ دے احكامو شرعيو دي په ملك كښ۔ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ اشاره ده چه هميشه والے دَ تمكين (دَ بادشاهئ) په اختيار دَ الله تعالىٰ كښ دے لكه چه ابتداء هم دَ هغه په اختيار كښ ده۔

۴۲۔ په دے كښ تسلي ده رسول الله صلى الله عليه وسلم او تابعدارانو دَ هغهٔ ته. يعني دَ دے سورت په تيرشوے احكامو او مواعيدو دَ الله تعالىٰ كښ كه دوى ستا تكذيب كوي نو الله تعالىٰ به دوى لره عذاب وركړي لكه چه تير اقوام مكذبه ته ئے عذابونه وركړے وو۔ او اصحاب مدين نه قوم شعيب ئے او نه وئيل ځكه چه دَ هغه بل قوم هم وو اصحاب الايكه ليكن دَ هغوى هلاكت عربو كښ زيات مشهور نه وؤ۔ وَكُذِّبَ مُوْسٰى، قوم دَ موسىٰ ئے ځكه او نه وئيل چه قوم دَ هغه بنو اسرائيل وؤ هغوى دا سے تكذيب نه وؤ كړے چه په ټولو عذاب راغلے وي او آيت كښ اشاره ده چه په قوم دَ ابراهيم عليه السلام هم عذاب راغلے دے ليكن تفصيل دَ هغے معلوم نه دے۔

۴۴،۴۵ : دا په ترتيب سره ذكر دَ اقوام مكذبو دے بيا دے ترتيب سره په

أَهْلَكْنٰهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ فَهِيَ خَاوِيَةٌ

هلاک کړي دي مونږ هغه او حال دا چه هغوي ظلم کوونکي وه پس هغه پريوتلې دي

عَلٰى عُرُوْشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَّقَصْرٍ

په چتونو خپلو باندې او ډير کوهيان شاړ او ماڼۍ

مَّشِيْدٍ ﴿۴۵﴾ أَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِي الْأَرْضِ

پخې (شاړې دي). آيا نو دوي نه ګرځي په ملک کښې.

فَتَكُوْنَ لَهُمْ قُلُوْبٌ يَّعْقِلُوْنَ بِهَا

نو چه پيدا شي دوي لره داسې زړونه چه پوهيږي په هغې سره

أَوْ اٰذَانٌ يَّسْمَعُوْنَ بِهَا فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى

يا غوږونه چه اوريدل کوي په هغې سره. پس يقيناً نه ړنديږي

سورة هود کښې ذکر شويدي هاں تکذيب دَ قوم ابراهيم عليه السلام په سورة انعام او سورة انبياء کښې ذکر شوي دي.

نَكِيْرِ انکار او بدلولو ته ويلې کيږي دلته مراد عذاب دے ځکه چه په عذاب سره نعمتونه بدل شي.

۴۵ :- دا هم تخويف دنيوي دے او په دې کښې علت دَ عذاب ذکر شوے دے چه هغه ظلم دے.

خَاوِيَةٌ عَلٰى عُرُوْشِهَا، هغه مکانات دي چه اول يې چتونه راپريوتل بيا دَ چتونو دَپاسه ديوالونه را او غورځيدل بيا څه موده وروستو ډيرې جوړې شوې.

بِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ، دَ هلاک شوے قومونو په کورونو او کلو کښې کوهيان هم شاړ پاتې شويدي. يا مراد دَ دے نه هغه کوهے دے چه حنظله بن صفوان عليه السلام په زمانه کښې او چ شوي وُ دَ هغې واقعه په تفسير قرطبي وغيره کښې ذکر شويده.

قَصْرٍ مَّشِيْدٍ، په دغه هلاک قومونو کښې دَ بنګلو والو نه بنګلې شاړې پاتې شوې. يا ترينه مراد ماڼۍ او بنګلې دَ ثمود بانو دي.

الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي

ستر‌ګې او لیکن ړندېږي هغه زړونه چه

فِي الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ

په سينو کښ دي - او په تادئ سره دوی غواړی ستا نه عذاب

وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ ۚ وَإِنَّ يَوْمًا

او هيڅ‌رے خلاف نه کوی الله تعالٰی د وعدے خپلے نه، او يقيناً يوه ورځ

عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

په نيز د رب ستا پشان د زرو کلونو ده د هغے نه چه تاسو يے شمار کوئ-

سک :- روستو د ذکر د عذاب د قوموتو تېرشوؤ نه التفات دے موجوده خلقو ته چه سيل اوکړی د دے مکانا تو (کنډراتو) او عبرت تر ینه حاصل کړی-

يَعْقِلُونَ بِهَا، اشاره ده چه د عقل محل قلب دے او دے نه معلومه شوه چه د سفر په تګ‌ا ليقو سره تجربه او عقل کښ ترقی راځی او د حق د اوريدلو صفت پيدا کيږی-

فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ، هرکله چه په سفرکولو سره په نظر د سترګو کښ ترقی نه پيدا کيږی نو د کلام طرز يے بدل کړو- ابن عطيه فرمائی چه په دیکښ مبالغه ده يعنی ړوند والے (کامل) د سترګو ړوند والے نه دے بلکه د زړه ړوند والے دے، دا مراد نه دے چه سترګے د هيچا نه ړندېږی ځکه چه دا د واقع نه خلاف ده - مطلب دا شو چه دوی اګرچه ګرځی او په سترګو باندے دغه کنډراتو ته ګوری ليکن عبرت نه اخلی ځکه چه زړونه يے ړاندۀ دی-

مک :- دا بل زجر دے يعنی عبرت نه اخلی بلکه زر عذاب غواړی-

وَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ وَعْدَهُ، د وعد نه مراد وعد د عذاب دے د وجے د قرينے د دے آيت نه اګرچه وعد مستعمليږی په وعده د ثواب کښ-

وَإِنَّ يَوْمًا الخ، مطلب دا چه اوږد او سخت عذاب دے نو دوی ډير جاهلان دی چه داسے عذاب په تلوارے غواړی-

وَكَأَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ

او ډیر کلی دی مهلت ورکړے دے ما هغوی ته او حال دا چه

ع ۷ ۱۳ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا ۚ وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿۴۸﴾

ظلم کوونکی دی بیا اونیول ما هغوی لره او خاص زما طرف ته راګرځیدل دی۔

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ نَذِيرٌ

ته اووایه اے خلقو یقینًا زه تاسو لره ویره درکوونکے

مُّبِينٌ ﴿۴۹﴾ فَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

ښکاره یم۔ پس هغه کسان چه ایمان ئے راوړے او عمل ئے کړیدی په تابعدارئ د سنت سره

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۵۰﴾ وَالَّذِينَ

دوی د پاره بخښنه ده او رزق عزت والا۔ او هغه کسان

كَأَلْفِ سَنَةٍ، مراد دا چه تاسو د یو وطن او علاقے تخریب په زر کاله کښ
کوئ تو الله تعالیٰ ئے په یو ورځ کښ کوی او زر کاله په طور د مثال سره
ئے وئیلے دی ځکه عرب د ډیر والی د پاره د زرو شماره ذکر کوی ځکه دا
منتهیٰ د عدد ده بغیر د تکرار نه۔ یا مراد د دے نه ورځ د قیامت ده لکه
چه حدیث کښ وارد دی چه فقراء مسلمانان به جنت ته د اغنیاؤ نه نیمه
ورځ وړاندے داخلیږی او هغه پنځه سوه کاله دی ابن کثیر دا روایت ذکر
کړیدے یعنی پوره ورځ زر کاله شوه۔
سـ۴۸ :۔ دا هم تخویف دے۔ او جواب د سوال دے چه هر کله دا خلق
زر عذاب غواړی نو په دوی باندے عذاب ولے نه راځی حاصل د جواب دا
دے چه عادت الٰهی دے چه دا سے خلقو له مهلت ورکوی او بیا ورله عذاب
ورکوی۔ تیر شوی آیت کښ فکأین په ق سره ذکر کړے شو ځکه چه مهلت نه ئے
بعد متصل عذاب راغلے دے او د دے نه وړاندے ئے وعده د عذاب ذکر کړه او مهلت ئے
روستو ذکر کړیدے نو په مینځ کښ ئے دوباره وکأین راوړو په واو سره۔
سـ۴۹ :۔ په دے آیت کښ اثبات د رسالت دے او جواب د استعجال د عذاب دے۔ حاصل دا چه
زه خو رسول یم خو د عذاب د راوستلو یا روستو کولو ما سره اختیار نشته۔
سـ۵۰ :۔ دا په رسالت باندے تفریع ده چه د هغے نه دوه ډلے پیدا کیږی یو مؤمنان

سَعَوْا فِيْٓ اٰيٰتِنَا مُعٰجِزِيْنَ اُولٰٓئِكَ

چه کوشش کوي په آیاتونو زمونږ کښې مقابله کوونکي د هغې سره دغه

اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۵۱﴾ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ

کسان دي اور والا - او نه دے لیږلے مونږ ستا نه

قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا

مخکښې هیڅ رسول او نه نبي مګر هر کله چه

تَمَنّٰٓى اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ۚ

هغه لوستل کول غور څوړلے شیطان (وسوسے په زړونو د خلقو کښې) په وخت د لوستلو د هغوئ کښې

فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ ثُمَّ

نو وران کړل الله تعالیٰ هغه شبهات چه اچول شیطان بیا

يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۲﴾

کلک او ساتل الله تعالیٰ آیاتونه خپل او الله تعالیٰ پوهه دے او حکمتونو والا دے -

او دا د هغوی د پاره بشارت اخرویه دے - وَرِزْقٌ كَرِيْمٌ د دے مصداق صرف جنت دے ځکه چه د دنیا په رزق کښې ضرور ذلت یا کړاؤ وی -

۵۱:- دا تخویف دے منکرینو ته - مُعٰجِزِيْنَ، دا باب مفاعله ده او حال دے د ضمیر د سعوا نه مطلب دا دے چه دوی اراده لری د عاجز کول د صاحب آیات او آیات د دوی عاجز کول کوی - یا معاجزین معنیٰ منع کوونکی خلقو لره د تابعداری د نبی صلی الله علیه وسلم نه او معاجزین راوړل تمهید دے د روستو آیت د پاره چه شیاطین انسی او جنی د خلقو په زړونو کښې شبهات اچوی -

۵۲:- هر کله یې چه دوه فریقه ذکر کړل نو اوس د دے جدا جدا اسباب ذکر کوی ، د کافرینو د کفر سبب ، وسوسے د شیاطینو انسی او جنی دی ، او د مؤمنانو د ایمان سبب زائیله کول د الله تعالیٰ دی وسوسا وشبها تو د شیطانانو لره - دا رنګ مخکښې معاجزین ذکر کړو نو دا تفصیل او تفسیر

لِّيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ

(ددے مقصد د پاره) چه اوګرځوی هغه شبهے چه اچوی شيطان امتحان هغه کسانو لره

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ؕ

چه په زړونو د هغوی کښ مرض دے او د سختو زړونو والو لره،

وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ﴿٥٣﴾

او يقيناً ظالمان خامخا په دشمنئ لرے کښ دی۔

د هغے دے۔ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ ، د دے دواړو فرق په يو څو وجوهو سره دے اوله وجه دا چه د رسول معنیٰ دا ده چه پيغام رسوونکے دے د الله تعالیٰ د طرف نه او د نبی معنیٰ دا چه خبر ورکوونکے امتيانو ته دا فرق نسبتی دے۔ دويمه وجه دا چه رسول خاص دے په هغه پورے چه نازل شوی وی په هغه باندے کتاب الٰهی يا ورسره صحيفے وی د الله تعالیٰ د طرف نه او نبی عام دے۔ دريمه وجه دا چه رسول عام دے۔ هغه ملائکو ته هم وئيلے کيږی چه د الله تعالیٰ وحی راوړی او نبی خاص دے په انسانانو پورے۔

اِذَا تَمَنّٰى دا په معنیٰ د لوستلو او د بيانولو د وحی دے او په اشعارو د عربو کښ يدے معنیٰ هم استعمال شويدے۔

اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ ، يعنی د هغهٔ د لوستلو او د دعوت په وخت کښ شيطان انسی او جنی د نورو خلقو په زړونو کښ شبهات او وسوسے اچوی کله وائی دا مجنون دے يا ساحر دے يا کاهن دے يا مفتری دے وغيره وغيره۔

فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ ، يعنی الله تعالیٰ خپله وحی داسے نازله کړی چه په هغے سره هغهٔ د شبهاتو جوابونه اوکړی نو هغه شبهات زائيله شی او ختم شی۔

ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ ، يعنی د شبهاتو دفع کولو نه پس په دليلونو سره هغه دعوت د نبی محکم کړی۔

س۵۳ :- دا متعلق دے په القی الشيطان پورے د هغے حکمت ذکر کوی

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ أَنَّهُ

او دې د پاره چه یقین او کړی هغه کسان چه علم ورکړے شوے دے چه دا

الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ فَتُخْبِتَ

حق دے د طرف د رب ستا نه نو ایمان په راوړی پرے بانده نو شی نرم په شی

لَهُ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ الَّذِينَ

دے ته زړونه د دوی ، او یقینًا الله تعالیٰ رسوی مؤمنانو

آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٥٤﴾ وَلَا يَزَالُ

لره لارے نیغے ته . او همیشه به وی

یعنی شیطان لره ئے تسلط د شبهاتو اچولو د دے د پاره ورکړے دے
چه هغه امتحان او کړی د شکیانو (منافقانو) او سخت زړو کافرانو
د پاره . او هغوی پاخه شی په شک او کفر کښ او یا په سخته دشمنئ د
حق کښ اخته شی .

۵۴ :- دا متعلق دے په فَيَنسَخُ اللَّهُ پورے یعنی الله تعالیٰ چه شبهات
دفع کړی نو پدے سره فائده او رسیږی مؤمنانو ته یعنی د قرآن په
حقانیت بانده د هغوی علم او یقین نور زیات شی .
فَيُؤْمِنُوا نه مراد زیات والے د ایمان او یقین دے ځکه چه ایمان ئے
مخکښ راوړے دے یا مراد د اوتوا العلم نه مخکنی اهل کتاب دی
چه هغوی پوهه شول په حقانیت د قرآن نو ایمان ئے په قرآن بانده
راوړلو .
فَتُخْبِتَ ، د اِخبات معنیٰ پدے سورت کښ تیره شوے ده یعنی په قرآن
بانده په ایمان راوړلو سره اِخبات پیدا کیږی .
لَهَادِ ، یعنی په زیادت د علم او د ایمان او په اخبات سره په هدایت
کښ زیاتے پیدا کیږی .
فائده :- د دے آیت دا تفسیر چه ذکر شو واضح او صحیح دے . او بل
تفسیر چه بعض مفسرینو لیکلے دے او د هغے سره واقعه د الغرانیق

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْهُ حَتّٰى

هغه کسان چه کفر يې کړے وی په شک کښ	دَ دينه	تردے پورے

ليکلے ده هغه په ډيرو وجوهو سره غلط دے۔
اوله وجه، دا چه دغه حديث صحيح نه دے لکه چه قاضی عياض په شفا کښ وئيلے دی چه دا حديث په طريقه صحيح معتمد په سره نه دے نقل شوے او په الفاظو کښ يې ډير اضطراب دے او دا رنګ تفسير سراج المنير دَ امام بيهقی نه نقل کړيدی چه دا روايت په اعتبار دَ نقل سره ثابت نه دے او تفسير قرطبی کښ هم دی چه دا حديث منکر او منقطع دے او امام رازی تفسير کبير کښ وئيلے دی دا روايت باطل دے موضوع دے۔
دويمه وجه، دا چه دا واقعه امام بخاری په کتاب الصحيح کښ راوړے ده ليکن واقعه دَ غرانيق پکښ نشته۔
دريمه وجه، چه په دے کښ نسبت دَ کذب يا دَ غلطۍ دے نبی صلی الله عليه وسلم ته او حال دا چه انبياء عليهم السلام په باب دَ تبليغ کښ دَ غلطۍ او دَ کذب نه باالاتفاق معصوم دی۔
څلورمه وجه، دا چه دا دَ قرآن کريم نه هم خلاف ده دَ سورة الحاقه ۴۴ او سورة بنی اسرائيل ۷۳ نه۔
پنځمه وجه، دا چه که شيطان له دا سے تسلط په نبی باندے جائز شی چه دَ هغه په ژبه باندے دَ شرک الفاظ راولی يا دَ نبی دَ آواز سره آواز مشابه کوی او په او دريدو نکو تلبيس راولی نو بيا په ټول قرآن باندے بے اعتمادی پيدا کيږی۔
شپږمه وجه دا ده چه سورة نجم دَ مکے په ابتدائی وخت کښ نازل شوے دے او دَ دے سورت اکثره حصه په مدينه کښ نازل شويده۔ نو دا ډيره بعيده خبره ده چه تلبيس دَ شيطان په قرآن کښ دومره ډيره موده پورے پاتے شی او په هغے کښ ترديد نه کيږی۔
اوومه وجه دا ده مفسر ابن عبده ليکلے دی چه لفظ دَ الغرانيق دَ الهه په صفت کښ دَ عربو په نظم او په نثر کښ نه دے راغلے بلکه غرانيق غنو مردار خورو مارغانو ته وائی دا خو دَ توهين او تحقير کلمه ده۔

تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ

چه راشي دوی ته قیامت ناڅاپه او یا راشي دوی ته

عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ

عذاب د ورځې شنډې۔ بادشاهي په دغه ورځ

لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

صرف د الله تعالی ده، فیصله به کوي په مینځ د دوی کښې، پس هغه کسان چه ایمان

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾

او عملونه ئې کړیدي په موافقت د سنت په جنتونو د نعمتونو کښې به وي۔

اتمه وجه دا ده چه دا واقعه که چرے صحیح وے نو یهودیانو او نصارٰی، مشرکانو، منافقانو به په نبي صلی الله علیه وسلم باندے د دے اعتراض کړے وے چه ته په خپله د شرک اقرار کوے نو مونږ ولے منع کوے۔

۵۵:- دا آیت تعلق لري د ۵۳ سره چه د شبهاتو شیطانیو د وجے نه کافران همیشه په شک کښې دي او په دے کښې تخویف دے۔ د سَاعَةُ نه مراد قیامت دے یا وخت د مرګ۔ د يَوْمٍ عَقِيْمٍ نه مراد د ورځ د عذاب دنیوی دے یا د قیامت ورځ مراد ده۔ عَقِيْمٍ، شنډے ته وائي او مراد ترینه داسے ورځ ده چه شپه ورپسے نه راځي نو بله ورځ هم نه راځي یا مراد ترینه بے خیره ورځ ده۔

۵۶:- په دے کښې اشاره ده چه دغه عذاب هیڅوک نشي واپس کولے ځکه چه اختیار صرف د الله تعالی دے۔ بیا ورپسے بشارت دے۔

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

او هغه کسان چه کفر ئې کړی دے او دروغژن کوی آیاتونه زمونږ

فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾ ع ۷ / ۱۴

پس دغه کسان دوی لره عذاب ذلیل کوونکے دے۔

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او هغه کسان چه هجرت ئې کړی دے دپاره د دین د الله تعالیٰ

ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ

بیا اُوژلے شو یا مړهٔ شو خامخا روزی به ورکوی الله تعالیٰ دوی ته

رِزْقًا حَسَنًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۵۸﴾

روزی خائسته، او یقیناً الله تعالیٰ ښهٔ روزی ورکوونکے دے۔

۵۷:۔ په دے آیت کښ تخویف اخروی دے۔ هرکله چه په کفر او تکذیب (چه شبهات پیدا کول دی) دوی اهانت د آیاتونو کوی نو عذاب د دوی هم مهین دے۔

۵۸:۔ خلاصه:۔ د دے آیت نه څلورم باب دے تر آخر د سورت پورے په دیکښ ترغیب دے هجرت ته په بشارت سره او ترغیب دے قتال ته په ذکر د نصرت الهیه سره۔ او د نصرت اسباب ئې ذکر کړے دی۔ بیا پنځه عقلی دلیلونه دی په توحید باندے بیا بیان د طریقے د دعوت دے بیا عقلی دلیل دے بیا نهم اولسم زجر دے بیا رد دے په مشرکانو په ذکر د مثال د ذباب سره او جواب د دوؤ سوالونو بیا آخری دلیل عقلی دے بیا اته اوامر دی دپاره د استقامت په توحید او د اشاعت د هغے۔

تفسیر:۔ په دے آیت ۵۸ کښ بشارت دے مهاجرینو ته روستو د بشارت د عام مؤمنانو ته په ۵۶ کښ۔ دا آیت دلیل دے چه روستو د هجرت نه مقتولیت او بخپل مرګ مړکیدل دواړه برابر دی لیکن دا برابری په بعضے نعمتونو کښ ده اګرچه په نورو درجو کښ مقتول شهید

لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ؕ وَاِنَّ

خامخا داخل به کړی دوی لره ځائے دَ داخلیدو ته چه دوی به یې خوخوی، او یقینًا

اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ﴿۵۹﴾ ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ عَاقَبَ

الله تعالٰی پوهه دے صبر کوونکے دے۔ دا زیرے یقینی دے، او چا چه بدل واخسته

بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ ثُمَّ بُغِيَ

پشان دَ هغے چه دوی لره تکلیف ورکړے شوے وو بیا ظلم کړے شوے وی

عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ﴿۶۰﴾

په هغهٔ باندے خامخا مدد به کوی دَ دهٔ سره الله تعالٰی، یقینًا الله تعالٰی معافی کوونکے بخنه کوونکے دے۔

غوره دے۔ رِزْقًا حَسَنًا چه بے کړاوه وی او هر وخت لذت ورکوونکے وی او هیڅ نقصان او مرض نه پیدا کوی دا ښائسته رزق دے۔ او دا رزق په برزخ کښ دے لکه سورة العمران ۱۶۹ یا په جنت کښ دے۔

رَازِقِيْنَ، دا جمع په اعتبار دَ ظاهر سره ده ځکه چه خلق هم یو بل ته رزق ورکوی۔

۵۹:۔ دا هم بشارت دے په باره دَ مکان کښ روستو دَ بشارت دَ خوراک نه۔ ځکه فکر دَ روزۍ مخکښ دے دَ مکان دَ رهائش نه۔

مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ، مراد دَ دے نه جنت دے۔

۶۰:۔ په دے آیت کښ بشارت دنیوی دے په نصرت سره روستو دَ بشارت اخرویه نه۔ او مراد دَ عاقب نه بدل اخستل دی په قتال سره او ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ عطف دے په عوقب باندے مراد دا چه چا له چه تکلیف ورکړے شو او بیا پرے ظلم اوکړے شو یعنی دَ وطن نه اوویستلے شو او دغه شخص بدل واخست په قتال کولو سره نو الله تعالٰی به دَ دهٔ سره ضرور نصرت کوی۔

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ يُولِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ

دا مدد په دې وجه دے چه یقیناً الله تعالیٰ ورننه باسي شپه لره په ورځ کښ

وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ وَأَنَّ اللّٰهَ سَمِيعٌ

او ورننه باسي ورځ لره په شپه کښ او یقیناً الله تعالیٰ هر څه آوري

بَصِيرٌ ﴿۶۱﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَأَنَّ

هر څه ویني. دا مدد په دې وجه دے چه یقیناً الله تعالیٰ حقه دے بندګي کول د هغه او یقیناً

مَا يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ هُوَ الْبَاطِلُ

(بندګي کول) د هغه چا چه دوی ورته رامدد شه وائي سیوا د الله تعالیٰ نه دا باطل ده

وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيرُ ﴿۶۲﴾

او یقیناً الله تعالیٰ اوچت دے لوئے ذات والا دے.

۶۱: دا اول علت دے راودے ته اني علت وائي) د پاره د نصرت د مجاهد سره یعنې الله تعالیٰ په انقلاب د لیل او نهار قادر دے نو په نصرت کولو هم قادر دے یا په دے کښ اشاره ده په طریقه د مثال سره فائدے د نصرت ته یعنې امداد د دے د پاره کوي چه تیارے په رڼا سره بدلے کړي لکه چه رڼا په تیارو سره بدلوي.

۶۲: دا دویم علت دے د نصرت کولو (راودے ته لمي علت وئیلے شي) چه الله تعالیٰ حق الٰهه دے او نور الٰهه باطل دي نو الله تعالیٰ مدد کولے شي او نور الٰهه مدد نشي کولے. یا په دے کښ اشاره ده مقصد د نصرت ته یعنې مدد د دے د پاره کوي چه د الله تعالیٰ توحید ښکاره شي او د شرک بطلان ښکاره شي.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ز

آیا نهٔ گورې چه یقینًا الله تعالیٰ راورولے دی دَ آسمان دَ طرف نه اوبه

فَتُصْبِحُ الْأَرْضُ مُخْضَرَّةً ط إِنَّ اللّٰهَ

پس شي صباله زمکه شنه ، یقینًا الله تعالیٰ

لَطِيفٌ خَبِيرٌ ﴿٦٣﴾ لَهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا

مهربان دے خبردار دے ۔ خاص دَ هغه په اختیار کښ دی هغه چه په آسمانونو کښ دی او هغه

فِي الْأَرْضِ ط وَإِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ

په زمکه کښ دی ، او یقینًا الله تعالیٰ خاص هغه دے بے حاجته

ع ٨ / ١٥ الْحَمِيدُ ﴿٦٤﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ

ستائیلے شوے ۔ آیا نهٔ گورې چه یقینًا الله تعالیٰ ستاسو دَ وس دَ لاندې کړي ستاسو دَ فائدې دَ پاره

مَّا فِي الْأَرْضِ وَالْفُلْكَ تَجْرِي فِي الْبَحْرِ

هغه څه چه په زمکه کښ دی او کشتۍ روانے دی په دریاب کښ

س٦٣ :- دا دلیل عقلی دَ توحید دے چه هغه په مخکښ آیت کښ ذکر کړے شوے دے۔

فَتُصْبِحُ ، دَ عکرمه نه روایت دے چه دا په مکه او تهامه علاقه کښ دی چه باران اوشي تو صباله زمکه کښ شینکې بنکاره شی۔ او ابن عطیه وئیلے دی چه دا سے په علاقه دَ سوس اقصا کښ هم مالیدلے دی نو فا دلته په خپله معنیٰ دَ اتصال دے او که عام ملکونه مراد شی نو فا صرف دَ عطف دَ پاره دے۔

س٦٤ :- دا بل عقلی دلیل دے په توحید باندے او رد دَ شرک فی التصرف دے۔

لَهُ ملکیت او مملوکیت او عبودیت یکښ ټول مراد دی۔

بِاَمْرِهٖ ؕ وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ

په حکم د الله تعالیٰ سره، او راټینګ کړي دي آسمان لره د دې نه چه پریوتلو نه

عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په زمکه باندې سوا د حکم د هغه نه، یقینًا الله تعالیٰ

بِالنَّاسِ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۶۵﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ

په خلقو باندې شفقت کوونکے رحم کوونکے دے. او هغه داسې ذات دے

اَحْيَاكُمْ ز ثُمَّ يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ؕ

چه ژوندي کړي يئ تاسو بيا به مړۀ کوئ تاسو بيا به ژوندي کوي تاسو،

اِنَّ الْاِنْسَانَ لَكَفُوْرٌ ﴿۶۶﴾ لِكُلِّ اُمَّةٍ

يقينًا انسان خامخا ناشکره دے. د پاره د هرے ډلے

جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوْهُ

مقرر کړي دي موږ طريقه د بندګۍ چه دوي چلېږي په هغې باندې

س۶۵:- دا يل دليل عقلي دے په دې کښې تصرفاتِ الٰهيه په زمکه او اسمان او دريا بو توکښې ذکر کړے دي او دا آفاقي دليل دے او تسخير د زمکے د خيزونو دا دے چه د هغې نه انسانان هر قسم فائدې اخلي په امر د الله تعالیٰ سره.

وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ، کښې اشاره ده چه آسمان بغير د ستنو نه الله تعالیٰ راټينګ کړے دے.

اِلَّا بِاِذْنِهٖ، کښې اشاره ده چه په ورځ د قيامت به اذن د الله تعالیٰ او شي تو آسمانونه به ټکړے شي.

س۶۶:- دا دليل عقلي انفسي دے د انسان درے حالات ئے ذکر کړي دي. او بيا زجر ورکوي چه سره د دومره دليلونو نه انسان منکر او مشرک دے.

فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ وَادْعُ إِلَىٰ

پس دوی تا او نه باسی دَ کار نه په دچه دَ جګړے سره په دین کښ او دعوت کوه

رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾

خپل رب ته، یقینًا ته خامخا ئے په هدایت برابر بانذے.

وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا

او که دوی جګړه کوی تا سره پس اُووایه چه الله تعالیٰ ښه پوهه دے په هغه

تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾ اللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ

کارونو چه کوئ تاسو. الله تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ ستاسو کښ په ورځ

الْقِيَامَةِ فِيمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٦٩﴾

دَ قیامت په هغه څیز کښ چه تاسو ئے په هغے کښ اختلاف کوونکی.

ف٦٧:. هرکله چه دَ انسان کفر ئے ذکر کړو نو دَ هغے دَ علاج دَ پاره دعوت ذکر کوی لیکن دَ اول نه تشجیع ذکر کوی، حاصل دا دے چه دَ هرے ډلے دَ پاره جدا جدا لار او مسلک دے نو دوی به ستا سره ضرور جګړه کوی ستا دَ دین او مسلک په باره کښ لیکن دوی دے تا لره پرے نږدی چه جګړو سره دَ کار نه او نه باسی بلکه دعوت کوه توحید دَ رب خپل ته ځکه چه ستا سره پوره صحیح دلیلونه شته دے.

لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنسَكًا، په دے جمله کښ منسکا حق او باطل دواړه قسمه طریقو ته شامل ده. ځکه چه منسك په اصل کښ هغه ځائے او لارے ته وئیلے شی چه انسان هغے ته عادةً ځی راځی دَ پاره دَ خیر یا دَ شر. او جعل تکوینی او تشریعی دواړو ته عام دے. هُدًى مفصل او دلیلونو ته شامل دے.

ف٦٨:. یعنی سره دَ دعوت دَ حق نه که دا منکرین جګړے کوی نو دَ دوی دَ نورو جوابونو نه خاموش شه ځکه چه دوی عنادیان دی صرف دَ الله تعالیٰ علم ته ئے اوسپاره.

ف٦٩:. دا هم عنادیانو ته جواب دے تفسیر قرطبی کښ لیکلے دی چه په دے

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ

آیا ته نه پوهیږې چه یقینًا الله تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه په آسمان کښ دی

وَالْأَرْضِ ؕ إِنَّ ذٰلِكَ فِي كِتٰبٍ ؕ إِنَّ ذٰلِكَ

او زمکه کښ دی ، یقینًا دا ټول په کتاب (لوح محفوظ) کښ دی، یقینًا دا

عَلَى اللّٰهِ يَسِيرٌ ﴿٧٠﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن

په الله تعالیٰ باندے آسان دی۔ او بندګی کوی دوی سوا د

دُونِ اللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا

الله تعالیٰ نه د هغه څه چه ته دے نازل کړے په هغے باندے هیڅ دلیل

وَّمَا لَيْسَ لَهُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِينَ

او د هغه څه چه نشته دوی لره په هغے باندے علم ، او نشته ظالمانو لره

مِن نَّصِيرٍ ﴿٧١﴾ وَإِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا

هیڅ مددګار۔ او کوم وخت چه اولوستلے شی په دوی آیاتونه زمونږ

آیاتونو کښ دعوت کوونکو ته تعلیم د آداب دے کوم وخت چه د دوی مخاطبه وی د عناد یانو سره نو بیا دے طریقه دے د هغوی جواب اوکړی۔

سك ۱۔ دا دلیل عقلی دے په اثبات د علم د الله تعالیٰ سره په هر څیز باندے۔ او دا تائید دے د تیر شوی آیت چه الله تعالیٰ د دوی د اختلاف فیصله کولے شی ځکه چه په هر څیز باندے عالم دے۔

إِنَّ ذٰلِكَ، دا اشاره ده اختلاف د خلقو ته یا اشاره ده د آسمانونو او زمکو څیزونو ته چه دا ټول د تقدیر په کتاب کښ دی او په دویم ذٰلِكَ کښ هم دا دواړه توجیه دی۔ او دا آیت دلیل دے په اثبات د لیکلو د تقدیراتو باندے۔

سك ۱۔ پدے آیت کښ زجر دے په شرک فی العبادة باندے یعنی د مشرکانو سره منزل دلیل نشته او دلیل عقلی هم نشته او دیته ئے ظلم وئیلے دے۔

بَيِّنٰتٍ تَعْرِفُ فِىْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

ښکاره پیژنې ته په مخونو د هغه کسانو کښ چه کفر ئې کړیدے

الْمُنْكَرَ ؕ يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ

خفګان، نیږدے دے چه حمله اوکړي په هغه کسانو باندے

يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ

چه بیانوي په دوی باندے آیاتونه زمونږ، ته اُوایه آیا نو خبر درکړم تاسو ته

بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ

په ډیر ناکاره سره د دے نه چه اُور دے، وعده کړیده د هغې الله تعالى

۹ ع ۸ ۱۲ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۷۲﴾

د هغه کسانو سره چه کفر ئې کړیدے، او بد دے ځائے د واګرځیدلو دغه اُور۔

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا

اے خلقو بیانیږي یو مثال نو غوږ کیږدئ

لَهٗ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

هغې ته، یقیناً هغه کسان چه تاسو ورته رابللَه وائی سِوا د الله تعالى نه

۷۲: په دے کښ زجر دے په انکار د قرآن سره یعنی دوی سره خو دلیل نشته او هر کله چه دوی ته په دلیل د توحید کښ قرآن لوستلے کیږي نو په هغې باندے خفه کیږي او د قرآن په واضح آیاتونو سره غصه کیږي او نیږدے وي چه په قرآن بیان کوونکی باندے حمله اوکړي د پاره د منع کولو د هغې۔

بِشَرٍّ: یعنی ورته اُوایه چه ستاسو په نیز قرآن بیان کول شر دے لیکن د دے نه زیات شر اُور د جهنم دے چه د قرآن نه منع کوونکو د پاره تیار دے۔

لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِاجْتَمَعُوْا لَهٗ ط

هیځ چرے نشی (جوړولے) پیدا کولے یو مچ لره اګرکه ټول راغونډ شی هغے ته.

وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـئًا لَّا

او که چرے او تختوی ذ دوی نه مچ څه څیز نشی

يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ط ضَعُفَ الطَّالِبُ

خلاصولے هغے لره ذ هغه نه ، کمزورے دے غوختونکے

وَالْمَطْلُوْبُ ﴿٧٣﴾ مَا قَدَرُوا اللّٰهَ

او ذچا نه چه غوختنه کیدیشی . عزت نه دے کړے دوی ذ الله تعالی

٧٣ :- یعنی هرکله چه دوی ذ قرآن ذ بیان په وخت کښ شور او جګړه کوی او غوږ ورته نه نیسی نو دغه وخت دوی ته ذ شور ذ دفع کولو ذپاره او وایه چه شور مه کوئ غوږ کیدئ یو عجیبه مثال پیش کیدلے شی .

مَثَلٌ ذکر ذ ذُبَابٌ ذ ټولو مخلوق نه په طریقه ذ مثال سره دے یا مراد ذ مثل نه عجیبه بیان دے . حاصل دا دے چه معبودان ما سوی الله (که اولیاء وی که بتان وی) ټول کمزوری دی ځکه چه مچ په خلقو کښ ناقص الخلقت دے لیکن دوی ټول یو مچ هم نشی جوړولے بلکه مچ چه پخپلو پنجو او خوله کښ ذ دوی خوراکونو وغیرو نه څه څیز او تخته وی نو ذ دوی معبودانو وس نشته چه هغه ترینه خلاص کړی . یعنی دوی نه اختیار ذ ایجاد لری او نه ذ ځان نه ضرر دفع کولے شی . نو داسے کمزورئ مخلوق به څنګه حاجتونه پوره کړیشی؟

فائده :- ذُبَابٌ ئے ذ څو وجو نه خاص ذکر کړو .

اول دا چه ذ معبودانو ما سوی الله په دربارونو کښ خوراک څښناک او خوارځه په طور ذ نذر (ذ غیرالله سره ډیر وی او هغے له مچان ډیر راځی . دویم دا چه ذ مچ په بدن کښ اندامونه ذ ماشی نه هم کم دی نو چه لږ اندامونو والا نشی پیدا کولے نو ذ ډیرو اندامونو والا به څرنګه

حَقَّ قَدْرِهٖ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿٧٤﴾

لائق عزت دَ هغهٔ، یقینًا الله تعالیٰ قوت والا دے زورآور دے۔

اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا وَّمِنَ

الله تعالیٰ غوره کوی دَ ملائیکو نه پیغام رسوونکی او دَ

النَّاسِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ﴿٧٥﴾

انسانانو نه، یقینًا الله تعالیٰ هرڅهٔ آوری هرڅهٔ وینی۔

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۭ

عالم دے الله تعالیٰ په هر هغه حال چه وړاندے دَ دوی دی او هغه چه روستو دَ دوی دی

پیدا کړیشی او پیدے وجه اکثر په دربارونو دَ غیرالله کښ بیمار او پانده ، ګوډ، شل خلق پراته وی لیکن دغه قبرونو والا هغوی نشی جوړولے نو ستوړ خلقو له به څه حاجتونه پوره کړی۔ دریم دا چه ځ دَ الله تعالیٰ په مخلوق کښ ډیر اجهل دے (حیٰوة الحیوان داسے ذکر کړیدی) او دَ دے وجے نه دَ قبر دَ منجور مثال دَ بے حیا ځ سره ورکړے شویدے نو دا معبودان من دون الله دَ دغه بے حیا هم مقابله نشی کولے او دَ هغوی نه څه څیز نشی راخلاصولے۔

الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ، ابن جریر وئیلے دی چه طالب دغه معبود (صنم) دے او مطلوب ذباب دے او دویم قول دا دے چه طالب عابد دے او مطلوب معبود من دون الله دے۔

٧٤ :- دا زجر دے دغه مشرکانو ته چه دَ کمزوری مخلوق نه حاجات غواړی او الله تعالیٰ ئے هیر کړیدے نو دوی دَ الله تعالیٰ قدر نه کوی او دَ هغه صفتونه نهٔ پیژنی۔ او دا رنګ رد دَ مشرکانو دے چه هغوی په موحدانو باندے طعن کوی چه تا دَ اولیاؤ او بزرګانو قدر نه دے کړے نو جواب او شو چه تاسو دَ الله تعالیٰ قدر نهٔ کوئ۔

٧٥ :- دا جواب دَ قول دَ مشرکانو دے هغوئ وائی چه مونږ دَ دے اولیاؤ بزرګانو نه حاجات ځکه غواړو چه الله تعالیٰ دوی ته دا اختیارات

وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٧٦﴾ يٰٓاَيُّهَا

اوخاص الله تعالیٰ ته ورګرځولے شي ټول کارونه۔ اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا وَاسْجُدُوْا

ایمان والو رکوع کوئ او سجده کوئ

وَاعْبُدُوْا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ

او بندګي کوئ خاص د رب خپل او کوئ د خیر کارونه

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٧٧﴾ السجدة وَجَاهِدُوْا فِي اللّٰهِ

د دے د پاره چه کامیاب شئ۔ او جهاد کوئ په لار د الله تعالیٰ کښ

السجدة عند الشافعی

رد الوهیت) ورکړے دی، حاصل د جواب دا دے چه الله تعالیٰ مخلوق خپل له چه لویه مرتبه ورکوی نو هغه رسالت دے د رسالت نه بره مرتبه د خدائی توب ده هغه هیڅ چا لره نه ورکوی۔

٧٦:- دا د مخکښ د پاره دلیل دے چه چاله رسالت ورکوی نو د هغوی په حال پاندے ښه عالم دے او دارنګ د هغوی په عبدیت او عجز پاندے هم عالم دے ځکه ئے د ځان سره نه شریکوی۔

مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ، حاضر حالات یا راتلونکی۔ وَ مَا خَلْفَهُمْ، تیر شوی حالات۔

٧٧:- هر کله چه بیان شول احوال د مشرکانو نو اوس خطاب کوی مؤمنانو ته په هغه امورو سره چه په هغے سره فلاح او نصرت حاصلیږی او هغه څلور اوامر دی پدے آیت کښ او څلور دی په روستو آیت کښ۔ رکوع او سجده ئے خاص ذکر کړه چه د نورو سرکشانو نه فرق په دے سره راځی په قیام سره نه راځی۔

وَاعْبُدُوْا، عام دے د رکوع او سجدے نه ټولو عبادات بدنیه او مالیه ته شامل دے۔

وَافْعَلُوا الْخَيْرَ، دا د عبادت نه هم عام دے ښه اخلاق او د مخلوق سره احسان کول او نفلی کارونه پکښ داخل دی۔ ابن کثیر په تفسیر د

حَقَّ جِهَادِهٖ ۭ هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ

پوره جهاد ، هغه غوره کړي يئ تاسو (د پاره د جهاد) او نه ده کړې الله تعالىٰ

عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ۭ مِلَّةَ

په تاسو باندې په دين کښ هيڅ تنګسيا (تابع شئ) د دين

اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ۭ هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ڏ

د پلار ستاسو چه ابراهيم عليه السلام دے ، هغه تاسو له نوم کيخودلے دے مسلمان ،

مِنْ قَبْلُ وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ

مخکښ د دے قرآن نه (په نورو کتابونو کښ) او په دے قرآن کښ د دے د پاره چه شي رسول

شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَاۗءَ

رسوونکے (د دين) تاسو ته او تاسو شئ رسوونکی

عَلَى النَّاسِ ښ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا

(د دين) نورو خلقو ته پس پابندي کوئ د مونځ او ورکوئ

الزَّكٰوةَ وَاعْتَصِمُوْا بِاللّٰهِ ۭ هُوَ مَوْلٰىكُمْ

زکوٰة او کلک شئ په دين د الله تعالىٰ پورے ، هغه ستاسو مولىٰ دے

فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۷۸﴾

ع ۲ ۱۷

نو ښه مولىٰ دے او ښه مددګار دے .

۸۱ د دے سورت کښ روايات د احمد او ترمذي او ابوداؤد په اثبات د دے سجده کښ ذکر کړے دي او هريو باندے کلام نقل کړے دے بيا ئے وئيلے دي چه دا روايات بعضے د بعضو تائيد کوي .

۸۲ :- مراد د جهاد نه عام دے مجاهده د نفس سره او د شيطان سره او د ظالمانو سره او دعوت او تبليغ د حق ټولو ته شامل دے .

حَقَّ جِهَادِهٖ ، مراد دا دے هريو فرد له جهاد په شرعي طريقے سره ضروري دے يا مراد دا چه نفس او مال او جان ټول په

جهاد کښې صرف کړئ - هُوَ اجْتَبٰکُمْ، دَ دے ځاے نه شپږ علتونه دَ جهاد دَ پاره ذکر
کوی۔ اول دا چه الله تعالیٰ تاسو غوره کړئ (منتخب ئے کړئ) دَ جهاد او دعوت
دَ پاره لکه چه سورة العمران ۱۱۰ کنتم خیر امة الایة دے - دویم دا چه
په تاسو باندے دَ دین په اعمالو او دَ دین په دعوت کښې حرج نه دے
کیخودلے بلکه ستاسو دَ وس او طاقت متناسب دے او په دیکښې اشاره ده
نصرت دَ الله تعالیٰ ته - دریم دا چه جهاد دَ ملت ابراهیمیه نخه ده. څلورم
دا چه ابراهیم علیه السلام ستاسو نوم مخکنو کتابونو او په دے قرآن کښې
مسلمین کیخودلے دے او دَ مسلمانان کار جهاد دے - ضمیر دَ سَمّٰکُمْ
ابراهیم علیه السلام ته راجع دے - دَ وَفِیْ هٰذَا کښې اشاره ده سورة بقره
۱۲۸ ته دویم قول دا دے چه دا ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے مِنْ قَبْلُ
نه مراد مخکنی کتابونه دی و فی هٰذَا نه مراد قرآن کښې هغه آیاتونه دی
چه په هغے کښې دے امت ته دَ اسلام نسبت کړے شوے برابره خبره
ده که دا نسبت په طریقه دَ اسم فاعل سره وی او که دَ فعل سره وی
او په حدیث دَ نسائی کښې المسلمین المؤمنین عباد الله ذکر دے نو معلومه
شوه چه مراد په دیکښې تسمیه صفتی ده دا عَلَم نه دے -پنځم دا چه
رسول به په تاسو باندے شهادت کوی دَ تبلیغ دَ دین تاسو ته - شپږم
دا چه تاسو به هم شهادت ورکوئ په نورو خلقو باندے او دا مرتبه
ستاسو دَ وجے دَ جهاد کولو نه ده او دَ دے شهادت تفسیر په سورة بقره
۱۴۳ کښې تیر شوے دے او بیا درے امور ئے نور ذکر کړل چه په هغے
سره دَ دعوت او دَ جهاد دَ پاره تثبیت حاصلیږی او اختتام ئے په بشارت
سره او کړو چه په دے طریقه باندے عمل کولو سره دَ الله تعالیٰ
ولایت (دوستانه) او نصرت حاصلیږی۔

اللهم انصرنا ولا تنصر علینا اللهم اَعِنَّا وَلَا تُعِنْ علینا،

تفسیر دَ سورة الحج بحمد لله ختم شو۔

سورة المؤمنون مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰياتها ۱۱۸ ركوعاتها ۶

خاص په نوم د الله تعالىٰ امداد غواړم په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحيم دے

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝۱ الَّذِيْنَ

يقيناً کامياب دي مؤمنان ـ هغه کسان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ

ربط :- د دے سورت د سورة الحج سره دا دے ـ

ع۱ :- د سورة الحج په آخر کښې مؤمنانو ته اوامر ذکر شول د پاره د دنيوی کاميابئ نو د دے سورت په اول کښې ذکر کوی صفات د مؤمنانو د پاره د فلاح اخروی ـ

ع۲ :- په هغه سورت کښې رد دے په شرک د تحريم او تحليل نو په دے سورت کښې ترديد دے په شرک في البرکات باندے چه هغه مبدء د شرک فعلی دے ـ

دعوٰی د دے سورت رد دے په شرک فی البرکات باندے په شپږو طريقو سره ـ

اول دولس عقلی دليلونه، شپږ د سورة په اول کښې او شپږ په آخر کښې ـ

دويم شپږ نقلی دليلونه ـ دريم مقابله په مينځ د صفاتو د مؤمنانو او د مشرکانو کښې او هر يو د هغے ته ثوارلس دی ـ څلورم وېرول مشرکانو ته په ذکر د اوۀ اسبابو د عذاب او اوۀ حالتونه د عذاب ـ پنځم ترديد په شپږ قسمونو د شرک ـ شپږم ذکر د يوولس اسماء حسنٰی د الله تعالىٰ د معرفت د پاره ـ

خلاصه د سورت :- دا سورت تقسيم دے څلورو بابونو ته ـ اول باب تر ۲۳ پورے دے په دے کښې بشارت دے مؤمنانو ته په اوۀ صفاتو سره او بيا شپږ عقلی دليلونه دی او دعوٰی د سورت ده ـ

تفسير :- ۱ :- په دے آيت کښې ئے مرکزی صفت ذکر کړے دے چه ايمان دے ـ امام ترمذی حديث کښې ذکر کړے دے د هغے مضمون

هُمْ فِیْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ ۝۲ وَالَّذِیْنَ

چه دوی په خپلو مونځونو کښ عاجزي کوونکی دی۔ او هغه کسان

هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝۳ وَالَّذِیْنَ

چه دوی دَ بے فائدے خبرونو نه مخ گرځوی۔ او هغه کسان

دا دے چه دا آیاتونه چه نازل شول نو نبی صلی الله علیه وسلم قبلے ته مخ کړلو او لاس ئے پورته کړل دُعا ئے اوغوښتله اَللّٰهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا وَاَکْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا وَاَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا وَاٰثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَیْنَا وَاَعِنَّا وَلَا تُعِنْ عَلَیْنَا وَانْصُرْنَا وَلَا تَنْصُرْ عَلَیْنَا وَارْضَ عَنَّا وَارْضِنَا۔ بیا ئے اوفرمائیل په ما باندے لس آیاتونه نازل کړے شویدی چا چه پدے باندے عمل اوکړلو نو جنت ته به داخلیږی۔ اشاره شوه چه مراد دَ فلاح نه جنت ته داخلیدل دی۔

سلا :۔ خشوع صفت دَ زړهٔ دے چه آثار دَ هغے په اندامونو باندے ښکاره کیږی۔ یعنی په مانځه کښ دَ بدن او جامو سره لوبے نه کوی او په زړه کښ سوا دَ مانځه نه نور فکرونه نه راولی او په قیام رکوع سجده کښ صرف دَ سجدے ځائے ته گوری او دَ خپلے څخے نه کانړی وغیره (بے ضرورته) نه لرے کوی او دَ قرآن په معنیٰ باندے فکر ساتی او دَ حکم دَ خشوع په باره کښ دَ اهل علم اختلاف دے صحیح دا ده چه خشوع فرض ده اگرچه په ټول نمونځ کښ په لږ ساعت وی۔

سلا :۔ دا دریم صفت دے او دَ لغو نه مراد ټول گناهونه او عبث کارونه دی۔ کفر او شرک بدعات او رسمونه رواجونه دروغ غیبت کول وغیره پکښ داخل دی۔ او دا رنگ مجلسونه دَ شرک او بدعاتو او رسمونه رقصونه وغیره هم په دے کښ داخل دی۔

هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ هُمْ

چه دوی زکوٰة لره ورکوونکی دی۔ او هغه کسان چه دوی

لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝ اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ

د خپلو عورتونو ساتنه کوی۔ مګر په خپلو بیبیانو باندے

اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ

یا هغه وینځے چه مالکان دی ځی لاسونه د دوی پس یقیناً دوی نه دی

مَلُوْمِيْنَ ۝ فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ

ملامته کړے شوی۔ پس چا چه اولټوو سوا د دے نه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝ وَالَّذِيْنَ

نو دغه کسان دوی د حد نه تیرونکی دی۔ او هغه کسان

ت۴:۔ دا څلورم صفت دے او د زکوٰة نه مراد د نفس د پاک ساتلو عملونه دی (تزکیه د نفس) او پاک والے د مال په صدقاتو او زکوٰة ورکولو سره هم پکښ داخل دی۔ او ابن کثیر وئیلی دی چه اصل زکوٰة د مال فرض شوے دے په مکه کښ او نصاب او مقدارونه ئے مقرر شوی دی په مدینه کښ۔

ت۵:۔ دا پنځم صفت دے د عفت او د پاکدامنۍ او حفاظت د فرجونو دوه قسمه دے۔ ۱ د بدکاره کولو نه ځان ساتل ۲ او د زنا بدکارئ نه هم پاک ساتل دی۔

ت۶:۔ دا آیت دلیل دے چه وینځه د سرے دغه مولٰی لره بغیر د نکاح نه جائز ده ځکه چه د اَزْوَاجِهِمْ نه ئے جدا ذکر کړیده۔

ت۷:۔ دا آیت دلیل دے چه زنا او اغلام بازی او متعه ټول حرام دی ځکه چه دا ټول په (وراء ذٰلك) کښ داخل دی او دا رنګ په سورة معارج ۳۱ کښ ذکر دی او امام شافعی رحمه الله د دے آیت نه دلیل نیولے دے چه اِسْتِمْنَا په لاس سره حرام ده او دا صحیح دے

هُمْ لِاَمٰنٰتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رٰعُوْنَ ﴿۸﴾

چه دوی د امانتونو خپلو او لوظونو خپلو لحاظ کوونکی دی.

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَلٰى صَلَوٰتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۹﴾

او هغه کسان چه دوی په مونځونو خپلو باندے ساتنه کوی.

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْوٰرِثُوْنَ ﴿۱۰﴾ الَّذِيْنَ

دغه کسان دوی حقداران دی هغه کسان

يَرِثُوْنَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۱﴾

چه حقدار به شی د جنت فردوس، دوی به په هغے کښ همیشه وی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ مِنْ سُلٰلَةٍ

او یقینًا پیدا کړے مونږ انسان د چاڼ کړے شوے

مِّنْ طِيْنٍ ﴿۱۲﴾ ثُمَّ جَعَلْنٰهُ نُطْفَةً فِيْ

خټے نه. بیا جوړه کړه مونږ هغه نطفه په

ف۸:- دا شپږم صفت دے او امانات ټول دینی او دنیوی ذمه وارو ته شامل دی. او عهد نه مراد هغه امور دی چه انسان ئے په ځان باندے لازم اوګرځوی که حقوق الله وی او که حقوق العباد وی.

ف۹:- دا اووم صفت دے او مراد د محافظت د صلوٰة نه پوره شرطونه او ارکان دی او همیشه کول د مونځ او په سنت طریقے سره کول او مفسداتو او مکروهاتو نه بچ ساتل دی. خشوع صفت قلبی او باطنی وو. او محافظت صفت ظاهری دے.

ف۱۰، ف۱۱:- دا بیان د فلاح دے چه په اول آیت کښ ذکر شویده او مراد د وراثت نه استحقاق دے لکه وارث چه حقدار د میراث دے نو دارنګ دوی حقدار د جنت دی.

ف۱۲:- دا اول دلیل عقلی نفسی دے مراد د انسان نه آدم علیه السلام دے او سُلٰلَةٍ مِّنْ طِيْنٍ، نه مراد دا دے چه نرمه خټه

قَرَارٍ مَّكِيْنٍ ﴿۱۳﴾ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ

ځائے دَ قرار مضبوط کښ۔ بیا شکل هم ورکړو نطفې لره

عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً

دَ ټکړے دَ وینے بیا شکل هم ورکړو ټکړے دَ وینے لره پوټے دَ غوښے

فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا

پس اوګرځوو مونږ پوټے هډوکو والا بیا واغوستله مونږ

الْعِظٰمَ لَحْمًا ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا

هډوکو ته غوښه بیا پیدا کړو مونږ هغه په پیدائش

اٰخَرَ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ﴿۱۴﴾

بل سره، پس برکات ورکوونکے دے الله تعالیٰ چه ښائسته دَ شکل جوړوونکو

ثُمَّ اِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُوْنَ ﴿۱۵﴾

بیا یقیناً تاسو روستو دَ دے نه خامخا په مړه کیږئ۔

په موتي کښ اونیولے شي او زور ورکړے شي او په کور تو کښ ختمه را اوځي نو هغې ته سَلٰلَةٍ وائي۔

س۱۳، س۱۴:۔ جَعَلْنٰهُ، ضمیر نه مراد اولاد دَ آدم دے یعني جعلنا نسله په قرینه دَ سورة سجده ۸۔ او دَ عام انسانانو دَ پیدائش شپږ حالات ئے ذکر کړے دي۔ او دا رنګ سورة الحج کښ تیر شویدي۔ او مراد دَ خلق آخر نه دَ روح اچولو نه روستو تر مړګه پورے ټول حالات مراد دي۔ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ، دعوه دَ سورت ده او معنیٰ دَ دے په سورة اعراف کښ تیره شویده او اَحْسَنُ، په معنیٰ دَ مضبوط او کلک دے یا خلق په معنیٰ دَ شکل جوړولو دے او اَحْسَنُ په معنیٰ دَ ښائسته دے۔

س۱۵:۔ دا حکم عام دے، انبیاؤ اولیاؤ ته هم شامل دے او په دے کښ اشاره زوال دَ مخکني نعمت چه ژوند دنیوی دے۔

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُوْنَ ﴿۱۶﴾

بیا یقیناً تاسو په ورځ دَ قیامت به دوباره ژوندی کیږئ۔

وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ

او یقیناً پیدا کړی دی مونږ اوچتے ستاسو نه اووه لارے

وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷﴾

او نه یو مونږ دَ مخلوق نه ناخبره۔

وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ

او راورولے دی مونږ دَ طرف دَ آسمان نه اوبه په اندازه سره

فَأَسْكَنّٰهُ فِى الْأَرْضِ ۖ وَإِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ

نو اوسولے دی مونږ هغه په زمکه کښ، او یقیناً په اوچولو

بِهٖ لَقٰدِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَأَنْشَأْنَا لَكُمْ بِهٖ

دَ هغے پاند ے خامخا قدرت لرونکی یو۔ نو پیدا کړل مونږ تاسو لره پدے او بوسو

۱۶:۔ دا ذکر دَ دویم ژوند دے او هغه هم ژوند حقیقی دے پشان
دَ ژوند دَ دُنیا، او دَ قبر ژوند هم شته دَ نورو دلیلونو په وجے سره
لیکن هغه ژوند حقیقی نه دے ځکه ئے نه دے ذکر کړے۔
۱۷:۔ دا دویم دلیل عقلی آفاقی علوی دے۔ طَرَآئِقَ نه مراد دادے
چه دَ یو بل دَ پاسه دی یا مراد دَ دینه دا چه لارے دی دَ ملائکو دَ
تلو راتلو دَ پاره۔
عَنِ الْخَلْقِ، دا مصدر په معنیٰ دَ مفعول دے یعنی ټول مخلوق او
پدیکښ اشاره ده چه دَ آسمانونو حفاظت او امساك هم الله تعالیٰ کوی۔
۱۸:۔ دا دریم دلیل عقلی وسطی دے او اسکناه مطلب دا دے چه
دا اوبه دَ باران په زمکه کښ په طریقه دَ کوهیانو او چینو، خوړونو
سیندونو سره موجود دی۔
وَإِنَّا عَلٰى ذَهَابٍۢ بِهٖ، کښ تخویف دے بندګانو ته که الله تعالیٰ دا

جَنّٰتٍ مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ لَكُمْ فِيْهَا

باغونه دَ كجورو او دَ انګورو ستاسو دپاره په هغې كښ

فَوَاكِهُ كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۱۹﴾

ميوے ډيرے دي او بعضے دَ هغې نه تاسو خورئ (او پيسا كړيلاه)

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِنْ طُوْرِ سَيْنَآءَ

او ونه چه راوځي دَ غر خائسته نه

تَنْۢبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْاٰكِلِيْنَ ﴿۲۰﴾

راټوكوي تيل او ښخكرے دپاره دَ خوراك كوونكو۔

وَاِنَّ لَكُمْ فِي الْاَنْعَامِ لَعِبْرَةً ؕ نُسْقِيْكُمْ

او يقينًا تاسو لره په څاروو كښ خامخا عبرت دے، څكوو مونږ تاسو باندے

مِّمَّا فِيْ بُطُوْنِهَا وَلَكُمْ فِيْهَا مَنَافِعُ

دَ هغې نه چه په ځيټو دَ هغې كښ دي او تاسو لره په هغې كښ فائدے

او په اوچه كړي نو هيڅوك ئې نشي واپس كولے داسے په سورة ملك ۳۰ كښ هم دي۔

۱۹:۔ دا څلورم دليل سفلي دے۔ فَوَاكِهُ نه مراد نورے ميوے دي سوا دَ كجورو او انګور نه يا مراد دا دے چه دَ كجورو او انګورو نه مختلف او ډير قسمونه جوړيږي۔

وَمِنْهَا كښ اشاره ده چه دَ خوراك نه علاوه نورے فائدے هم په ديكښ شته۔

۲۰:۔ دا پنځم دليل سفلي دے۔ دَ دے ونے نه مراد خونۀ دے چه دَ هغې تيل دَ دهن په ځائے استعماليږي (يعنې غوړول پرے كيدے شي) او دَ خوراك دپاره دَ سالن (ښخكړي) په ځائے هم استعماليږي او طور سينا هر هغه غر ته وئيلے كيږي چه په هغې كښ ډيرے ونے او بوټي او ميوے دي او په هغې سره خائسته ښكاره كيږي۔

كَثِيْرَةٌ وَّمِنْهَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَعَلَيْهَا وَعَلَى

ډیرے دی او بعضې دَ هغې نه تاسو خورئ - او په دغه څاروو باندے او په

الْفُلْكِ تُحْمَلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا

کشتو باندے سوروَلے شئ تاسو۔ او یقینًا لیږلے دے مونږ

نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَقَالَ يٰقَوْمِ

نوح علیه السلام قوم دَ هغه ته پس هغه اُوئیل اے قومه زما

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ

بندګی کوئ دَ الله تعالٰی خاص نشته تاسو لره حقدار دَ بندګئ سوا دَ هغه نه،

اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۲۳﴾ فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ

آیا پس ولے نه ویرېږئ تاسو۔ پس اوئیل غټانو هغه چه

كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ

کفر ئې کړے وو دَ قوم دَ هغه نه چه نه دے مګر بنده دے

۲۱:۔ دا شپږم دلیل دے۔ مَنَافِعُ دَ پیو ډیر زیات دی دَ دے وجے نه عرب دیته (دَرّ) هم وائی شو مُلے، لسی، ماسته، کُچ، غوړی وغیره دَ دینه جوړیږی - او مَنَافِعُو دَ څرمنو او ویختو وړئ ته هم شامل دے۔

۲۲:۔ دا اوُوم دلیل عقلی دے او دَ سورلئ دَ پاره دَ انعام نه اوښان مراد دی ځکه چه غویانو باندے سورلئ مناسب نه ده په حدیث شریف کښ دَ هغې منعے ته اشاره ده - او آیت کښ اشاره ده سورلئ دَ اوچے او دریاب ته۔

۲۳:۔ خلاصه:۔ دَ دے آیت نه دویم باب دے تر ۵۰ پورے په دیکښ شپږ نقلی دلیلونه دی دَ انبیاء علیهم السلام نه په رد دَ شرک فی البرکات باندے یعنی دغه انبیاء علیهم السلام او دَ هغوی منکرو ته نجات او مخالفینو ته عذاب دَ الله تعالٰی دَ طرف نه وو او دیته برکات وئیلے شی۔

مِّثْلُكُمْ لا يُرِيدُ أَنْ يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ط

ستاسو پشان غواړي چه غوره والے حاصل کړي په تاسو باندے ،

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَاَنْزَلَ مَلٰٓئِكَةً ۚ صلے ج

او که غوښتلے الله تعالیٰ خامخا نازل کړے به ئے وے ملائیکو لره

مَّا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِيٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِيْنَ ۝٢٤

نه دی اورېدلی موږ دا خبره په مشرانو مخکنو کښ ۔

اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلٌۢ بِهٖ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوْا

نه دے دا مګر سړے دے په دهٔ باندے لیونتوب دے نو انتظار کوئ

بِهٖ حَتّٰى حِيْنٍ ۝٢٥ قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ

په باره ددهٔ کښ تر یو وخت پورے ۔ اُوئیل دهٔ اے ربه زما امداد اوکړے زما

تفسیر :۔ او د دے آیت نه اول دلیل نقلی دے ۔ هر کله چه رسولان رالیږل نعمت دے د الله تعالیٰ د طرف نه نو د دے وجے نه دا ئے عطف کړو په مخکښ انعاماتو باندے ۔

۲۴ :۔ په دے آیت کښ د مخالفینو د طرف نه څلور اعتراضونه ذکر شوی دی په نوح علیه السلام باندے ۔

يُرِيْدُ اَنْ يَّتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ، دا عادت دے د دنیا پرستو چه هغوی حق پرست په ځان باندے قیاس کوی او وائی چه دے اقتدار او مشری غواړی ۔

بِهٰذَا ، مسئله د توحید ته اشاره ده یا دعوای د نبوت ته او خپل جهل ئے په دلیل کښ پیش کړے دے دا ئے بل جهل دے ۔

۲۵ :۔ دا پنځم اعتراض دے او په یکښ د هغه ډیره بے عزتی ئے کړیده ۔

حَتّٰى حِيْنٍ ، مراد دا دے چه څه وخت پس به د دهٔ لیونتوب بنکاره شي یا دا چه دے به مړ شي نو موږ به تر ینه خلاص شو ۔

بِمَا كَذَّبُوۡنِ ﴿۲۶﴾ فَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلَيۡهِ

په سبب چه دوی ما ته دروغژن وائی - نو وحی اوکړه مونږ ده ته

اَنِ اصۡنَعِ الۡفُلۡكَ بِاَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا

چه جوړه کړه کشتئ په مخامخ د سترګو زمونږ او په وحی زمونږ سره

فَاِذَا جَآءَ اَمۡرُنَا وَفَارَ التَّنُّوۡرُ ۙ

پس کله چه راشي حکم د عذاب زمونږ او وخوټيږي تنور

فَاسۡلُكۡ فِيۡهَا مِنۡ كُلٍّ زَوۡجَيۡنِ

نو ورننه باسه په کشتئ کښې د هر قسم حيوان نه جوړے

اثۡنَيۡنِ وَاَهۡلَكَ اِلَّا مَنۡ سَبَقَ عَلَيۡهِ

دوه ښځه او اهل خپل ماسوا د هغه چا نه چه مخکښې شوې په هغه باندې

الۡقَوۡلُ مِنۡهُمۡ ۚ وَلَا تُخَاطِبۡنِىۡ

فيصله د دوی نه ، او مه کوه خبرے ما سره

فِى الَّذِيۡنَ ظَلَمُوۡا ۚ اِنَّهُمۡ مُّغۡرَقُوۡنَ ﴿۲۷﴾

په باره د ظالمانو کښې يقيناً دوی غرق کولے کيږي

۲۶ :- نصرت د الله تعالیٰ د طرف نه برکت دے او انبياء هم په برکاتو کښې الله تعالیٰ ته محتاج دی -

۲۷ :- د دے تفسير په سورة هود کښې تير شوے دے -

فَاسۡلُكۡ ، مراد د دينه داخلول دی او سورة هود کښې ئے احمل ذکر کړے دے يعنی اول ئے داخل کړه نو سواره ئے کړه - او هر کله چه په دے سورت کښې سورلی د کشتو مخکښې ذکر کړے ده نو د دے وجې نه دلته ئے احمل ذکر نه کړو -

بِاَعۡيُنِنَا ، دا د صفاتو د الله تعالیٰ نه دے او دا په ظاهری معنیٰ سره مراد دے بغير د تشبيه او تمثيل او تاويل نه دا د سلف صالحينو عقيده ده -

فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى

نو هر کله چه برابر شې ته او څوک چه ستا سره دي په

الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ

کشتۍ باندې نو اوايه ستائنه د خدائے ده الله تعالی لره هغه ذات

نَجّٰنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۸﴾ وَقُلْ

چه نجات ئې راکړے دے مونږ له د قوم ظالمانو نه - او وايه

رَّبِّ اَنْزِلْنِيْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ

اے ربه زما راکوز کړے ما لره ځائے د کوزیدلو برکت والا او ته

خَيْرُ الْمُنْزِلِيْنَ ﴿۲۹﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

غوره ئې د کوزونکو نه - یقیناً په دیکښ خامخا عبرتونه دي

وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِيْنَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ اَنْشَاْنَا

او یقیناً مونږ امتحان کوونکی یو - بیا پیدا کړه مونږ

ف۲۸ :- په دے آیت کښ تصریح ده چه برکات ورکوونکے صرف الله تعالی دے او په دیکښ ذکر د تعلیم دے په وخت د سورلئ کښ۔

ف۲۹ :- په دیکښ تصریح ده چه برکات ورکوونکے الله تعالی دے۔

مُنْزَلًا، دا مصدر دے یعنی کوزول یا ظرف دے یعنی ځائے د کوزیدلو او مُبٰرَكًا نه مراد دا دے چه په هغې کښ سلامتیا او نجات وي او د دین د اشاعت او د الله تعالی د رضا د پاره وي۔ او په دے آیت کښ اشاره ده چه هر کله څوک په یو ځائے کښ اقامت (دیره) کوي یا مسجد او بل مکان ته داخلیږي نو دا دُعاء دِ لولي، دا رنګ ئې تفسیر قرطبي کښ هم لیکلے دي۔

ف۳۰ :- یعنی په دے واقعه کښ ډیر دلیلونه دي د پاره د توحید فی البرکات او نور عبرتونه دي۔ او یو حکمت پکښ ابتلاء ده د مؤمنانو او عبرت د عذاب دے د پاره د کافرانو۔

مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿۳۱﴾ فَاَرْسَلْنَا

روستو دَ دوی نه پیړئ بله ـ پس اولیږلهٔ موږ

فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْهُمْ اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

په هغوی کښ رسول دَ هغوی نه چه بندګی خاص کوئ الله تعالٰی لره،

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۳۲﴾ ع

نشته تاسو لره حقدار دَ بندګئ سوا دَ هغهٔ نه، آیا پس نه بچ کیږئ دَ شرک نه۔

۳۱:۔ قَرْنًا اسم جنس دے عاد، ثمود، قوم لوط، اصحاب مدین ټولو ته شامل دے او هر کله چه په دے کښ عموم مقصد دے دَ دے وجے نه روستو آیت کښ رسول ئے مبهم ذکر کړلو دَ پاره دَ دے چه ټولو ته عام شی۔

۳۲:۔ دَ دے آیت نه دویم دلیل نقلی دے۔ او په دے کښ اختلاف دے بعضے مفسرینو وئیلے دی چه دا قصه دَ عادیانو ده۔ او دَ رسول نه مراد هود علیه السلام دے ځکه چه نورو سورتونو کښ چه دَ انبیاؤ قصص ئے ذکر کړے دی نو په نوح علیه السلام پسے دَ هود علیه السلام ذکر دے لیکن په دے باندے اعتراض دا دے چه په دے قصه کښ عذاب دَ صیحه (چغے) ذکر کړے دے او په عادیانو باندے عذاب دَ سیلئ راغلے دے دَ دے جواب دا دے کیدے شی چه سیلئ سره عذاب دَ چغے جمع کړے شوے وی لکه چه تفسیر قرطبی لیکلے دی۔ او بعضے مفسرینو وئیلے دی چه دا قصه دَ ثمودیانو ده او دَ رسول نه مراد صالح علیه السلام دے ځکه چه عذاب دَ صیحه اول په هغوی باندے راغلے وو لکه چه سورة هود کښ ذکر کړے شویدی او بعضے مفسرینو وئیلے دی چه مراد دَ دیته قوم دَ لوط علیه السلام دے ځکه چه دَ هغوی عذاب په صیحه سره په سورة حجر کښ ذکر دے چه دا قوم دَ شعیب علیه السلام دے لیکن دا قول ضعیف دے ځکه چه روستو دَ دے نه دَ موسٰی علیه السلام ذکر دے او دَ شعیب او موسٰی علیه السلام په مینځ کښ نور

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِينَ كَفَرُوا

او وئیل غټانو د قوم د هغه نه هغه کسانو چه کفر یې کړی وؤ

وَكَذَّبُوا بِلِقَاءِ الْآخِرَةِ وَأَتْرَفْنَاهُمْ

او دروغژن یې ګڼلو ملاقات د آخرت او بډمسته کړي وؤ دوی لره

فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا مَا هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ

په ژوند دنیوی کښ چه نه دے دے مګر بنده دے

مِثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ

پشان ستاسو خوراک کوی د هغې نه چه تاسو خوراک کوئ د هغې نه

وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنْ

او څکاک کوی د هغې نه چه تاسو څکل کوئ ۔ او که

أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا

تابعداري اوکړه تاسو د یو بنده چه ستاسو پشان دے یقینًا تاسو په دغه وخت

لَخَاسِرُونَ ﴿٣٤﴾ أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ

تاوان والا ۔ آیا وعده کوی دے ستاسو سره چه یقینًا تاسو کله چه مړه شئ

رسولان نوؤ رالیږلے شوے لکه سورة قصص نه معلومیږی او دلته
په مینځ کښ ذکر دے چه ارسلنا رُسلنا تترًا ، غوره دا ده دلته هغه
ټول قومونه مراد دی چه په هغوی باندے عذاب د صیحه راغلے دے.
۳۳ :- پدے آیت کښ د هغه قوم یې دوه صفتونه ذکر کړل (کفر او
تکذیب) کفر ته مراد انکار د توحید او د رسالت نه دے او بیا یې
د دے صفتونو سبب ذکر کړو چه هغه وسعت (فراخي) د نعمتونو د دُنیا
دے او بیا د دوی اعتراض یې په رسول باندے ذکر کړو چه دے
بشر دے او دا رنګ په دهٔ کښ لوازم د بشریت دی (یعنی خوراک
څکاک کوی) یعنی زمونږ او د دهٔ هیڅ فرق نشته یعنی د دُنیا دارئ

وَكُنْتُمْ تُرَابًا وَّعِظَامًا اَنَّكُمْ مُّخْرَجُوْنَ ﴿٣٥﴾

او تاسو شئ خاورے او هډوکی یقینًا تاسو به را ویستلے کیږئ ۔

هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿٣٦﴾

لرے دہ لرے دہ هغه چه تاسو سره ئے وعده کیدے شی ۔

اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا نَمُوْتُ

نه دے دا مګر ژوندُ زمونږ دنیوی دے مړهٔ کیږو بعضے مونږ

وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿٣٧﴾

او پیدا کیږی بعضے او مونږ نه یو دوباره ژوندی کړے شوے ۔

اِنْ هُوَ اِلَّا رَجُلُ نِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ

نه دے دا مګر سړے دے جوړ کړیدی په الله تعالٰی باندے

دَ دے وجے نه ئے تکبر او کړو په رسولانو باندے ۔
٣٤ :۔ په دے آیت کښ دَ هغوی لوئے جرم ئے ذکر کړو یعنی خلقو لره دَ نبی دَ اطاعت نه منع کول او هغه سبب دَ خسران او تباهئ ګرځول ۔
٣٥،٣٦ :۔ په یکښ په نبی باندے دَ هغوی دَ طرف نه بل اعتراض ذکر کوی په باره دَ (بعث بعد الموت) کښ او دویم آیت کښ دَ دوی انکار ذکر کوی چه دا خبره دَ عقل نه لرے خبره دہ یعنی دَ عقل نه خلاف دہ ۔
هَيْهَاتَ ، په معنیٰ دَ مصدر دے یعنی بُعْدًا یا په معنیٰ دَ فعل دے چه بَعُدَ دے او تکرار ئے دَ تاکید دَ پاره کړے دے ۔
٣٧ :۔ دا دَ مخکښ سره تاکید دے په باره دَ انکار دَ بعث بعد الموت۔
نَمُوْتُ وَنَحْيَا ، دَ دے نه مراد دا دے چه بعضے مړهٔ کیږو او بعضے ژوندی پاتے کیږو (ترڅه وخت پورے) ۔

كَذِبًا وَّمَا نَحْنُ لَهٗ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۸﴾

دروغ او نه یو موږ دهٔ لره ایمان لرونکی۔

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِيْ بِمَا كَذَّبُوْنِ ﴿۳۹﴾ قَالَ

دهٔ اوئیل اے ربه زما مدد اوکړے زما سره ځکه چه دوی ما ته دروغژن وائی۔ اوئیل الله تعالی

عَمَّا قَلِيْلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ﴿۴۰﴾

روستو د لږ وخت نه خامخا شی به دوی پښیمانه۔

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ فَجَعَلْنٰهُمْ

پس اونیوو دوی لره چغې هیبت ناکې په عذاب سره نو اوګرځول موږ دوی لره

غُثَآءً ۚ فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۱﴾

تورشوی بوس نو هلاکت دے قوم ظالمانو لره۔

۳۸۔ دا هم انکار دے د رسالت نه او نسبت دے رسول ته د افتراء
عَلَی اللهِ تعالٰی۔ او دا دلیل دے چه مشرکانو الله تعالی منلو او په
الله تعالی باندے افتراء کول هم د هغوی په نیز قبیح کار وو۔ لیکن
حق نبی ته نسبت د افتراء کولو کفر دے۔
۳۹، ۴۰، ۴۱۔ دا دُعا د رسول ده او ښکاره دلیل دے چه انبیاء
هم په نصرت کښ الله تعالی ته محتاج دی۔ او لَيُصْبِحُنَّ ئے ځکه
اوفرمائیل چه عام عذابونه په وخت د صبا کښ راغلے دی۔ او نٰدِمِيْنَ
نه مراد پښیمانتیا ده په کفر کولو باندے او ندامت اګرچه توبه ده
لیکن دا په وخت د عذاب کښ نه قبلیږی۔
صَيْحَةٌ، که مراد د دے قوم نه عادیان وی نو معلومه شوه چه په هغوی
باندے د عذاب د سیلئ سره عذاب د صیحه هم راغلے وو لکه چه
تفسیر قرطبی او ابن کثیر کښ لیکلے دی۔
بِالْحَقِّ نه مراد عذاب دے یا معنیٰ د دے ده استحقاق د عذاب۔
غُثَآءً، هغه خس وخشاک ته وئیلے کیږی چه سیلاب د پاسه اوچت
روان وی۔

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا
بیا پیدا کړل موږ روستو دَ دوی نه پیړئ
اٰخَرِيْنَ ﴿۴۲﴾ مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا
نورے . نه وړاندے کیږی هیڅ امت دَ خپلے نیټے نه
وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۴۳﴾ ثُمَّ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا
او نه روستو کیږی . بیا اولیږل موږ رسولان خپل
تَتْرَا ؕ كُلَّمَا جَآءَ اُمَّةً رَّسُوْلُهَا كَذَّبُوْهُ
پرله پسے . هر کله چه راغے یو امت ته رسول دَ هغوی دوی دروغژن اوګڼل هغه ته
فَاَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَّجَعَلْنٰهُمْ
پس هلاک کړل موږ بعضے روستو دَ بعضو نه او وګرځول موږ دوی لره
اَحَادِيْثَ ۚ فَبُعْدًا لِّقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۴۴﴾
قصے دَ عبرت پس هلاکت دے هغه قوم لره چه ایمان نه لری .
ثُمَّ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى وَاَخَاهُ هٰرُوْنَ ۙ
بیا اولیږه موږ موسیٰ علیه السلام او ورور دَ هغه هارون علیه السلام

۴۲ ، ۴۳ ، ۴۴ :- دا دلیل نقلی اجمالی دے په دیکښ مراد هغه قومونه او رسولان دَ هغوی دی چه دَ قوم عاد نه تر فرعون پورے په مینځ کښ پرله پسے راغلی وو .
تَتْرَا ، متشابعة (پرله پسے) . اَحَادِيْثَ ، مراد تری نه واقعات دَ عبرت دی او دا لفظ اکثر په شر او عذاب کښ استعمالیږی .
لِقَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ، دا مشترکه وجه ده دَ ټولو قومونو تکذیب کوونکو او عاد یا تو کښ ظلم ډیر وو دَ دے وجے نه په ۴۱ کښ ظالمین لفظ ذکر کړو .

بِاٰيٰتِنَا وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٤٥﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ

په خپلو آيا تونو سره او په دليل. ښکاره سره - فرعون ته

وَمَلَا۟ئِهٖ فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا

او غټانو دَ قوم دَ هغه ته نو لوئى اوکړه دوى او دوى وو قوم

عَالِيْنَ ﴿٤٦﴾ فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ

زور آور - پس اوئيل دوى آيا ايمان راوړو مونږ په دوه بندګانو

مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ ﴿٤٧﴾

چه پشان زمونږ دى او قوم دَ دے دواړو مونږ لره عبادت کوونکى دى -

فَكَذَّبُوْهُمَا فَكَانُوْا مِنَ الْمُهْلَكِيْنَ ﴿٤٨﴾

پس دوى دروغژن کړل هغوى لره پس شول دَ هلاک کړے شوو نه -

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ

او يقينًا ورکړے وو مونږ موسىٰ عليه السلام ته کتاب دَ دے دَ پاره چه دوى

يَهْتَدُوْنَ ﴿٤٩﴾ وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ

هدايت او موندى - او ګرځولے دے مونږ ځوے دَ مريم

۴۵، ۴۶، ۴۷، ۴۸ :- دا يل دليل نقلى دے فَقَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ
دا بيان دے دَ استکبروا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عٰبِدُوْنَ، دا بيان دے دَ
عَالِيْنَ او عٰبِدُوْنَ نه مراد خدمتګاران دى - فرعون دَ بنى
اسرائيلو نه خدمتګاران جوړ کړے وو - لکه سورة شعراء کښ
اَنْ عَبَّدْتَّ بَنِىْٓ اِسْرَآئِيْلَ -
فَاسْتَكْبَرُوْا کښ فَا دَ پاره دَ عطف دے فَقَالُوْٓا کښ فَا دَ پاره دَ تفسير ده
فَكَذَّبُوْهُمَا او فَكَانُوْا دواړو کښ فَا سببيه ده يعنى استکبار سبب
شو دَ پاره دَ تکذيب او تکذيب سبب شو دَ پاره دَ اهلاک -
۴۹ :- تورات صرف په موسىٰ عليه السلام نازل کړے شوے وو ځکه
په دے آيت کښ خاص دَ موسىٰ عليه السلام ذکر يے اوکړو - او تورات

وَ اُمَّهٗۤ اٰيَةً وَّ اٰوَيْنٰهُمَاۤ اِلٰى رَبْوَةٍ

او مور دَ هغهٔ لره نخه　　او ځائے ورکړے وو موږ دواړو لره یو څربے زمکے ته

ذَاتِ قَرَارٍ وَّ مَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾ يٰۤاَيُّهَا الرُّسُلُ　ع

چه دَ آرام ځائے وو　　او اوبو چینه دارو- رؤئیلے وو موږ) اے رسولانو

كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَ اعْمَلُوْا صَالِحًا ؕ

خورئ　دَ　حلال څیزونو نه　او　عملونه کوئ نیک ،

اِنِّيْ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۵۱﴾ وَ اِنَّ هٰذِهٖۤ

یقینًا زهٔ په هغه عملونو چه تاسو کوئ پوهه یم -　او یقینًا　دا

ورکول روستو دَ اهلاک دَ فرعون نه وو دَپاره دَ هدایت دَ بنی اسرائیلو-
سے :- دا هم دلیل نقلی دے دَ عیسٰی علیه السلام او دَ مور دَ هغه نه
چه دوی په برکاتو کښ الله تعالٰی ته محتاج دی-
اٰيَةً ئے مفرد ځکه ذکر کړو چه مراد ترینه پیدا کیدل دَ عیسٰی علیه
السلام دَ مورنه بغیر دَ نارینه نه وو نو دا یو آیت دے او یا اٰيَةً په
معنیٰ دَ جنس آیت دے نو دَ مریم علیه السلام حالات او دَ عیسٰی
علیه السلام حالاتو ته اشاره ده -
رَبْوَةٍ هره څربه زمکه وی چه سطحه ئے اوچته وی او قَرَارٍ نه
مراد دا دے چه دَ اوسیدلو پوره اسباب پکښ موجود وو- او مَعِيْنٍ
نه مراد دے چه دَ اوبو چینے پکښ موجود وے او په یکښ اختلاف
دے چه دارمله وه ، یا بیت المقدس یا دمشق وو- او دَ دے سبب
دا وو چه یهودی ظالم بادشاه وو هغه اراده کړے وه چه عیسٰی علیه
السلام لره قتل کړی نو مریم او عیسٰی علیهما السلام دواړو هجرت
اوکړو دَپاره دَ حفاظت دَ خپل ځان -
ساھ :- خلاصه :- دَ دے نه دریم باب دے تر سکے پورے په یکښ
دلیل نقلی اجمالی دَ ټولو انبیاؤ نه ذکر کوی بیا زجر دے په تفرق
دَ خلقو سره بیا زجرونه دی په ذکر کولو دَ اوصاف قبیحه خوارلس دَ مشرکینو
او په مینځ کښ اووه صفات دَ مؤمنانو ذکر کوی او آخر دَ باب کښ

أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّأَنَا رَبُّكُمْ

دین ستاسو دے دین یو او زهٔ ستاسو رب یم

فَاتَّقُونِ ﴿٥٢﴾ فَتَقَطَّعُوٓا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ

نو ویریږئ زما نه - نو ټکړے کړو دوی دین خپل کور نئ کښ

تخویف دنیوی دے په دوه آیاتونو کښ -
تفسیر:- پدے آیت ۵۱ کښ غوره توجیه داده چه دا حکم ټولو رسولانو ته ورکړے شوے دے - او په خپله خپله زمانه کښ او دلته قلنا پټ مراد دے - یعني هر کله چه تیر شوے آیاتونو کښ د انبیاؤ علیهم السلام مدد د الله تعالیٰ د طرف نه ذکر کړے شو نو پدے آیت کښ اشاره ده سبب د دغه مدد ته - او اشاره ده چه ټول انبیاء د الله تعالیٰ محکوم بندګان دی نو هغوی د الله تعالیٰ په برکات ورکولو کښ شریک نشی کیدلے - او طَيِّبَاتِ هغه د خوراک څیزونو ته وئیلے کیږی چه د شرک او حرمت د شبهاتو نه پاک وی - او پاک حلال خوراک سبب دے د قبولیت د عمل صالح نو د دے وجے نه ئے مخکښ ذکر کړلو - او عمل صالح نه مراد عمل دے موافق د وحی الٰهی سره -
۵۲ :- دا دلیل دے چه حلال خوراک کول او د وحی سره موافق عمل کول د ټولو پیغمبرانو اتفاقی دین دے -
فَاتَّقُونِ کښ مراد دا دے چه د حرام خوراک نه او مخالف د شرع د عمل نه ځان بچ ساتئ - هم داسے سورة انبیاء ۹۲ کښ تیر شویدی په هغه سورت کښ د انبیاؤ علیهم السلام دعاګانے او عبادتونه ئے ذکر کړے وو، نو ځکه ئے دے امت ته او فرمائیل فَاعْبُدُونِ او پدے آیاتونو کښ تقوی ئے ذکر کړه چه د حرامو نه ځان او ساتئ - چه مخکښ آیت سره مناسبت دے -

زُبُرًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ
ټکړے ټکړے، هر ډله په هغهٔ دین چه دوی سره دے

فَرِحُوْنَ ﴿۵۳﴾ فَذَرْهُمْ فِيْ غَمْرَتِهِمْ
خوشحالیږی۔ نو پریږده دوی لره په ګمراهئ دَ دوی کښ

حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۵۴﴾ اَيَحْسَبُوْنَ اَنَّمَا
تر یو وخت پورے۔ آیا ګمان کوی دوی چه یقینًا

۵۳ :- پدے آیت کښ زورنه ده په تفرق او تحزب سره په سبب مخالفت کولو سره دَ دین دَ پیغمبرانو نه۔ هرکله چه په دعا او عبادتونو کښ تفرق څه موده روستو وؤ او ډیر زیات تفرق نه وؤ نو دَ دے وجے نه سورة انبیاء کښ وَتَقَطَّعُوْا په واو سره ذکر کړے وؤ او زُبُرًا ورسره نه دے ذکر کړے او په طعامونو او اعمالوکښ مخالفت زر شروع شوے وؤ۔ او په هغے سره ډیرے ډلے پیدا شوے وے نو په دے وجه په دے آیت کښ فَتَقَطَّعُوْا په فَا سره او زُبُرًا ئے ذکر کړلو۔
كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ، پدیکښ اشاره ده چه هر جماعت خپل عمل او طریقے ته دین او ثواب وائی اګرچه مخالف وی دَ دین دَ پیغمبرانو نه لکه ډلے دَ بدعتیانو چه دی۔ او سورة انبیاء کښ صرف مخالفت ذکر کړے وؤ اګرچه خپلو طریقو ته ثواب نه وائی نو هلته ئے دَ تخویف دَ پاره وَاِلَيْنَا يَرْجِعُوْنَ ذکر کړے وؤ۔
۵۴ :- دَ دے آیت نه حالات څوارلس دَ منکرینو ذکر کوی۔ پدے آیت کښ یو حال ذکر دے یعنی غفلت او ګمراهی دَ هغه کسانو چه په دین کښ ئے ټکړے پیدا کړیدی۔ او په لفظ دَ فَذَرْهُمْ کښ تسلی ده دَ نبی ته چه دَ دے منکرینو په مهلت او روستو کیدلو دَ عذاب باندے خفګان مه کوه۔

نُمِدُّهُمْ بِهٖ مِنْ مَّالٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۵۵﴾

هغه چه مونږ زياتوؤ دوى لره مالونه او ځامن

نُسَارِعُ لَهُمْ فِى الْخَيْرٰتِ ؕ بَلْ

دا زر بدله وركوؤ دوى لره دَ نيک عملونو دَ وجے نه بلكه دوى

لَّا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۶﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ هُمْ

نه پوهيږى - يقينًا هغه كسان چه دوى

مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِمْ مُّشْفِقُوْنَ ﴿۵۷﴾

دَ وجے دَ ويرے دَ رب خپل نه ويره كوونكى دى دَ هغه سره -

۵۵، ۵۶: پدے آياتونو كښ ئے دوه حالات دَ منكرينو ذكر كړے دى - گمان دَ خير او عدم شعور مطلب دا دے چه دَ دوى مالونه او ځامن وخت په وخت زياتيږى نو دَ دوى گمان دا دے چه دا دَ دوى په دنيا كښ دَ نيكو اعمالو بدله او اثر دے يا دا دَ دوى دَ ښه حالاتو دَ پاره اسباب دى او حال دا چه دا استدراج دے لكه چه سورة آل عمران ۱۷۸ كښ تير شويدى.

نُسَارِعُ لَهُمْ، مسارعت نه مراد زر وركول يعنى دَ دنيا جزا او بدله ده فِى الْخَيْرٰتِ، فى اجليه دے يعنى دَ وجے دَ نيک عملونو دَ دوى نه.

۵۷: دا په طريقه دَ مقابلے سره دَ مؤمنانو دَ صفاتو ذكر دے چه هغه اووه دى او اووه په اول دَ سورت كښ ذكر شوى دى نو ټول څوارلس شول. او دا صفتونه سبب دَ خيرات دے او دا بشارت دے هغه كسانو ته چه دين دَ انبياؤ ته ئے مخالفت نه دے كړے. خَشْيَتِ، دَ زړه حال دے او مُشْفِقُوْنَ دَ ظاهر حالت دے، چه دَ ويرے اثر په ظاهرى اندامونو باندے ښكاره شى. او زړه هم نرم شى، او دا دوه صفتونه دى. او دا دواړه صفتونه كمال عقيدے دَ توحيد ته اشاره ده.

وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ

او هغه کسان چه دوی په آیاتونو دَ رب خپل باندے

يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۸﴾ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِرَبِّهِمْ

ایمان لری۔ او هغه کسان چه دوی دَ خپل رب سره

لَا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَالَّذِيْنَ يُؤْتُوْنَ

شرک نه کوی۔ او هغه کسان چه ورکوی

مَآ اٰتَوْا وَّقُلُوْبُهُمْ وَجِلَةٌ اَنَّهُمْ

هغه څه چه ورکوی او زړونه دَ دوی ویره کوونکی دی چه یقیناً

اِلٰى رَبِّهِمْ رٰجِعُوْنَ ﴿۶۰﴾ اُولٰٓئِكَ يُسٰرِعُوْنَ

دوی خپل رب طرف ته به ورګرځی۔ دغه کسان ورزغلی

فِى الْخَيْرٰتِ وَهُمْ لَهَا سٰبِقُوْنَ ﴿۶۱﴾

نیکو کارونو ته او دوی هغو ته دَ یو بل نه وړاندے کیږی۔

۵۸، ۵۹:۔ په دیکښ دوه صفتونه ذکر شوی دی۔ هرکله چه ایمان په آیتونو باندے سبب دے دَ شرک نه دَ بچ کیدلو دَ پاره نو دَ دے وجے نه ایمان بالآیات ئے په شرک نه کولو باندے مقدم ذکر کړلو۔
۶۰:۔ په حدیث دَ ترمذی کښ ذکر شویده چه مراد دے نه هغه کسان دی چه روژے نیسی او مونځونه کوی او تصدق کوی او بیا هم ویریږی چه قبول به نه کړے شی، او دا کمالِ ایمان دے په نسبت دَ هغه چا چه ګناه کوی او دَ الله تعالیٰ نه ویره کوی۔ او په دے آیت کښ دَ مؤمنانو بل صفت ذکر کړے شوے دے۔ روستو دَ عقیدے نه ذکر دَ اعمالو دے سره دَ ویرے کولو دَ عذاب نه او ورسره ذکر دَ عقیدے دَ قیامت دے۔

۶۱:۔ په دے آیت کښ دوه صفتونه ذکر کړے شوے دی۔ يُسَارِعُوْنَ، سارعه ویلے شی اهم فَالْاَهَمْ، مخکښ کول او دا مقابل دَ عجلت دے

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا وَلَدَيْنَا

او تکلیف نه ورکوو هیخ نفس ته مگر په قدار د وس د هغه او زموږ سره

كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾

کتاب دے چه گویا به شي په حق وئيلو سره او په دوي به ظلم نشي كيدلے۔

بَلْ قُلُوْبُهُمْ فِيْ غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا

بلکه زړونه د دوي په غفلت کښ دي د دے (كتاب نه)

وَلَهُمْ اَعْمَالٌ مِّنْ دُوْنِ ذٰلِكَ هُمْ

او دوي لره نور عملونه دي سوا د دغه عملونو نه چه دوي

لَهَا عٰمِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ حَتّٰٓى إِذَآ اَخَذْنَا

هغے لره كوونكي دي (هميشه) تر هغے پورے چه هر کله اونیسو موږ

او باب مفاعله د مبالغے د پاره ده۔ لَهَا لام په معنیٰ الیٰ دے او معنیٰ نبکارۀ ده یا لام اجلیه دے معنیٰ دا ده چه دوی د وجے د خیرات نه سبقت کوونکے دی په درجاتو کښ یا جنت ته۔

ـ۶۲:ـ اوله جمله جواب د سوال دے چه دا تیر صفتونه حاصلول ډیر گران دی نو جواب اوکړے شو چه دا د انسانانو د طاقت نه بهر نه دی او دویمه دریمه جمله کښ تسلی ده چه د دوی د عملونو جزاء نه ضائع کیږی ځکه چه په عملنامه د ملائیکو کښ موجود دی۔

ـ۶۳:ـ د دے ځائے نه بیا صفتونه د منکرینو شروع شول او متصل دے په معنیٰ کښ د بَلْ لَا يَشْعُرُوْنَ سره، او غَمْرَةٍ په معنیٰ د غفلت دے۔ او هٰذَا اشاره ده صفاتو د مؤمنانو ته په تاویل د مذکور سره یا اشاره ده کتاب (عملنامے) ته۔

وَلَهُمْ اَعْمَالٌ، مراد دا دے چه د شرک او کفر نه علاوه عملونو نه د بدعاتو او رواجونو او فسق و فجور دی۔ یا مراد دا چه اعمالو د مؤمنانو نه سوا (خلاف) د دوی عملونه دی۔

مُتْرَفِيْهِمْ بِالْعَذَابِ إِذَا هُمْ يَجْئَرُوْنَ ﴿۶۴﴾

بډ مستانه دَ دوی په عذاب سره دغه وخت به دوی کړنجیرې (فریاد) به کوی

لَا تَجْئَرُوا الْيَوْمَ قف إِنَّكُمْ مِّنَّا

مه کړنجیږئ نن یقینًا تاسو سره زمونږ دَطرفه

لَا تُنْصَرُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَدْ كَانَتْ اٰيٰتِيْ تُتْلٰى

هیڅ مدد نشی کیدلے. یقینًا وو آیاتونه زما لوستلے کیدل په

عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ عَلٰى أَعْقَابِكُمْ

په تاسو بانډے نو وئ تاسو چه په پوندو خپلو بانډے به

تَنْكِصُوْنَ ﴿۶۶﴾ مُسْتَكْبِرِيْنَ بِهٖ سٰمِرًا

اوړېدلئ. لوئی کوونکی وئ دَ دے نه قصه کوئی تاسو پریږدو به

تَهْجُرُوْنَ ﴿۶۷﴾ أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا

تاسو ده لره. آیا پس سوچ نه کوی دوی

سـ۶۴ :- دا تخویف دنیوی دے حَتّٰی متعلق دے په عاملون پورے او په مُتْرَفِيْهِمْ کښ اشاره ده سبب دَ ناکاره عملونو ته چه هغه عیش پرستی او سرمایه داری ده -

سـ۶۵ :- دا وئیلے کیږی په زبان حال سره یا ملائک ورته په وخت دَ نزع کښ وائی یا دا په معنیٰ دَ جملے خبریئے سره دے - یعنی دا چغے تاسو ته هیڅ فائده نه درکوی - مثلًا زمونږ دَطرف نه تاسو سره امداد نشی کیدلے یا زمونږ دَعذاب نه تاسو بچ کیدلے نشئ -

سـ۶۶ :- دا ذکر دَ سبب دَعذاب دے او دا تور احوال دَ منکریتو په تفصیل سره ذکر کوی -

سـ۶۷ :- پدیکښ ذکر دَ دریم حالاتو دَ منکرینو دے - مُسْتَكْبِرِيْنَ بِهٖ یعنی لوئی کوئی په نورو خلقو بانډے په سبب دَ حرم او په سبب دَ نزول دَ قرآن دَ دوی په قوم او په ملک کښ - یا مراد دا دے چه لوئی

الْقَوْلَ اَمْ جَآءَهُمْ مَّا لَمْ يَأْتِ اٰبَآءَهُمُ

په دے قرآن کښ بلکه راغلی دے دوی ته هغه څيز چه نه وو راغلے مشرانو د دوی

الْاَوَّلِيْنَ ﴿۶۸﴾ اَمْ لَمْ يَعْرِفُوْا رَسُوْلَهُمْ

مخکنو ته ۔	آيا دوی نه پيژنی	رسول خپل

کوئ دَ قرآن نه ۔ په اوله معنیٰ بآء سببيه ده او په دويمه معنیٰ با په معنیٰ عن سره ده او په اوله معنیٰ ۂ ضمير راجع دے يا تنزول قرآن ته او په دويم معنیٰ ضمير راجع دے دَ قرآن او رسول ته ۔

سَامِرًا ، په معنیٰ دَ جمع سره دے يعنی (قرآن نه آوری) او ماسخوتن قصئ کوئ ۔ او دا عادات دَ مشرکانو وو دَ دے وجے نه حديث دَ مسلم کښ منع شوے دے دَ ماسخوتن نه روستو دَ خبرو کولو نه رسوا دَ دين دَ خبرو نه يا دَ خپل اهل سره خبرے کول) او قرطبی روايت نقل کړے دے چه عمر رضی الله عنه به دَ ماسخوتن نه روستو په خبرو کولو باندے خلق وهل ۔ يا سَامِرًا په معنیٰ دَ مفرد دے او تقدير دَ عبارت دا دے تظنون به سامرًا يعنی گمان کوئ تاسو په دے نبی او قرآن باندے دَ قصّه کو ۔

تَهْجُرُوْنَ ، دَ هجران نه دے يعنی پريږدئ تاسو قرآن او رسول لره ۔ يا دَ هُجر نه دے يعنی بے فائدے خبرے کوئ چه هغے ته بکواس وئيلے کيږی او دا جمله حاليه ده ۔

۶۸ ۔ دا زجر دے او ذکر دَ دوۀ صفاتو دَ منکرينو دے او دَ الْقَوْلَ نه مراد قرآن کريم دے او هم دا سے په سورة نساء ۸۲ او سورة محمد ۲۴ کښ دی ۔ او په دے کښ زور ته ده هغه خلقو ته چه دَ قرآن تلاوت او ختمونه کوی ليکن څان په هغے باندے نه پوهه کوی ۔

اَمْ جَآءَهُمْ دا زجر دے يعنی نوے مسئله دوی ته راغلے ده چه هغه توحيد دے نو دوی دَ هغے نه انکار کوی لکه سورة ص ۵ کښ ۔

فَهُمْ لَهُ مُنْكِرُوْنَ ﴿۶۹﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ

نو دوی هغهٔ لره نا اشنا گنړونکی دی - آیا دوی وائی چه دهٔ بانДے

جِنَّةٌ ؕ بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ

لیونتوب دے، بلکه راوړے ئے دے دوی ته حق او اکثر دَ دوی ته

لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ

حق لره بد گنړونکی دی - او که برابر وے حق

اَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ

دَ خواهشاتو دَ دوی سره خامخا خراب شوی به وے آسمانونه او زمکه

وَمَنْ فِيْهِنَّ ؕ بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِذِكْرِهِمْ

او هغه څوک چه په یکښ دی، بلکه راوړے دے مونږ دوی ته یاداشت (نصیحت) دَ دوی

فَهُمْ عَنْ ذِكْرِهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۷۱﴾ ؕ

پس دوی دَ یاداشت خپل نه مخ گرځوی -

۶۹:- دا زجر دے او ذکر دَ یو صفت دَ منکرینو دے یعنی دوی ضد او عناد کوی ځکه چه دَ دے رسول صداق او امانت داری دَ مخکښ نه پیژنی لیکن دَ ضد دَ وجے نه ئے نه منی - یعنی اَمْ کښ استفهام انکاری دے -

۷۰:- دا هم زجر دے او دوه صفتونه دَ منکرینو ئے ذکر کړی دی، ۱ نبی ته نسبت دَ جنون کول - ۲ او حق بد گنړل دَ وجے دَ حسد او دَ تقلید نه، دا سے په تفسیر قرطبی کښ ذکر دی -

۷۱:- دا هم زجر دے په طریقه دَ دلیل سره مطلب ئے دا دے که حق موافق شی دَ دوی دَ خواهشاتو سره یعنی دوی چه معبودان من دون الله جوړ کړی دی دا حق شی او دا رنګ دوی چه کوم بدعات خرافات جوړ کړی دی دا دین شی نو دا به سبب شی دَ عالم دَ خرابیدلو او دَ تباه کیدلو دَ پاره ځکه چه شرک او بدعت سبب دَ فساد دَ عالم دے -

أَمْ تَسْأَلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ

آیا ته غواړې دَ دوی نه　آمدان　نو آمداني　دَ رب ستا

خَيْرٌ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿٧٢﴾ وَإِنَّكَ

غوره ده، او هغه غوره　رزق　ورکوونکې دے۔ او یقینًا ته

لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾

خامخا دعوت ورکوې دوی لره　نیغې　لارې ته۔

وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ

او یقینًا　هغه کسان　چه ایمان نه لري　په　آخرت باندې

لکه په سورة انبیاء ۲۴ کښې۔ او په دې آیت کښې پوصفت دَ دوی ذکر
شوې دے یعنې اعراض کول دَ ذکر دَ توحید نه۔
۷۲ :۔ دا جواب دَ وهم دے یعنې که اُوټیلې شي کیں یشي چه مانع دَ ایمان
دَ دے منکرینو دَ پیغمبر دَ طرف نه په موجودوي ؟ لکه مزدوري غوښتل
نو جواب یې ورکړو چه نبي دَ دوی نه هیڅ اجر نه دے طلب کړے۔ فرق
دَ خرج او دَ خراج دا دے چه خرج هغه اجرت ته وائي چه مقرر
کړے شوي وي او خراج هغه اجر دے چه په عطا او بخشش سره
حاصلیږي دَ دے وجې نه دَ الله تعالی په جانب کښې خراج ذکر کړے شو۔
۷۳ :۔ دا جواب دے دَ بل وهم، که اوټیلې شي چه دَ دے نبي مقصد دَ
دعوت په غلط وي څکه یې دوی نه مني ؟ جواب اوشو چه دَ هغه
مقصد صحیح دے او په دې کښې ذکر دَ صدق　رسول دے۔

عَنِ الصِّرَاطِ لَنٰكِبُوْنَ ﴿۷۴﴾ وَلَوْ رَحِمْنٰهُمْ

دَ لارے تیغی نه خامخا اوړیدونکی دی - او که چرته رحم اوکړو مونږ پدوی باندے

وَكَشَفْنَا مَا بِهِمْ مِّنْ ضُرٍّ لَّلَجُّوْا فِيْ

او لرے کړو هغه چه په دوی باندے څه ضرر دے خامخا ورننوځی به دوی په

طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُوْنَ ﴿۷۵﴾ وَلَقَدْ اَخَذْنٰهُمْ

سرکشئ خپله کښ پریشان به وی - او یقینًا نیولے وو مونږ دوی لره

بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوْا لِرَبِّهِمْ

په عذاب سره - پس تابعداری ئے اونکړه دَ رب خپل

وَمَا يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿۷۶﴾ حَتّٰۤى اِذَا فَتَحْنَا

او نه ئے ورته عاجزی اوکړه - تر هغے پورے چه هرکله پرانځو مونږ

عَلَيْهِمْ بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيْدٍ اِذَا

په دوی باندے دروازه سخت عذاب والا دغه وخت

۷۴ :- پدے آیت کښ هم زجر دے او آخری صفت قبیحه دَ دوی ذکر کړے شو نو معلومه شوه چه دَ پیغمبر دَ طرف نه هیڅ مانع او نقصان نشته بلکه نقصان دَ دوی دَ طرف نه دے- په آیت کښ اشاره ده چه کفر بالاخرة سبب دے دَ اعراض دَ صراط مستقیم نه-

۷۵ ، ۷۶ :- روستو دَ زجر و نو نه تخویف دے په عذاب دنیوی سره چه هغه قحط او لوږه وه چه په مکے والا باندے دَ عذاب په شکل مسلّط شویوه لیکن دوی توبه دَ شرک نه اونه کړله او هرکله چه عذاب دَ دوی نه لرے کړے شو نو بیا ئے سرکشی ئے شروع کړله -

لَّلَجُّوْا دَ لجاج نه اخستلے شوے په ضد او عناد سره په مخالفت کښ ورننوتل

فائده :- اِسْتَكَانَتْ خاص دَ عذاب په وخت کښ وی یعنی توبه کول نو هغه په صیغه دَ ماضی سره ذکر کړے شو او تضرع په هر وخت کښ پکار وی یعنی روستو دَ عذاب لرے کیدلو نه توحید منل نو هغه په

هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿۷۷﴾ وَهُوَ الَّذِي

دوی به په هغې کښې ناامیده وی - او الله تعالیٰ هغه ذات دے

أَنشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ط

چه پیدا کړې دی ستاسو د پاره غوږونه او سترګے او زړونه ،

قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿۷۸﴾ وَهُوَ الَّذِي

لږه غونډے شکر په کوئ تاسو - او الله تعالیٰ هغه ذات دے

ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿۷۹﴾

چه خوارۀ کړی یئے تاسو په زمکه کښې او خاص هغه ته به جمع کړے شئ تاسو -

صیغه د مستقبل سره ذکر کړے شو -

۷۷ - دا هم تخویف دنیوی یا اخروی دے ځکه چه د عذاب نه مراد دنیوی عذاب دے لکه واقعه د بدر یا فتح مکه - او بابا نه مراد یو قسم او نوع دے یا د عذاب نه مراد جهنم دے - او بابا نه مراد دروازه د جهنم ده چه کله دوی جهنم ته اورسیږی نو دروازے د جهنم به دوی ته پرانستلے شی لکه چه سورۃ زمر ۷۱ کښې راغلی دی -

۷۸ - خلاصه :- د دے ځائے نه خلورم باب دے تر آخر د سورت پورے په دیکښې شپږ عقلی دلیلونه دی درے د هغے نه دلیلونه محضه (بے اقراره) دی - بیا زورنه ده په انکار د بعث بعد الموت نو بیا درے عقلی دلیلونه اعترافی (اقرار والا) دی د پاره د اثبات د توحید او قیامت - بیا رد دے په مشرکانو باندے بیا درے آداب د دعوت دی سره د تخویف دنیوی نه بیا تخویف دے په حالت برزخیه سره او مختصر بشارت دے بیا اوګوره حالات د عذاب د اخرت دی او اوګوره اسباب د هغے دی - بیا مسئله د توحید ده سره د اختتام نه په دُعا سره -

تفسیر :- په دے آیت ۷۸ کښې دلیل عقلی دے او د لږ شکر نه مراد اقرار د دے نعمت دے سره د شرک کولو نه -

۷۹ :- دا بل دلیل عقلی دے او دا رنګ په سورۃ ملک ۲۳ ۲۴ کښې هم راغلی دی -

وَهُوَ الَّذِيْ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَلَهُ

او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ژوندی کول کوی او مړه کول کوی او خاص د هغه په اختیار کښ دے

اخْتِلَافُ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۸۰﴾

بدلیدل د شپے او د ورځے، آیا پس عقل نه لرئ تاسو۔

بَلْ قَالُوْا مِثْلَ مَا قَالَ الْاَوَّلُوْنَ ﴿۸۱﴾

بلکه دوی وائی پشان د وینا د مخکنو۔

قَالُوْٓا ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَ

دوی وائی آیا کله چه مړه شو موږ او خاورے شو موږ او هډوکی شو آیا

اِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۸۲﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ

موږ به دوباره ژوندی کیږو۔ یقینًا وعده کړے شوے ده زموږ

وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ

او د مشرانو زموږ سره دا وعده د مخکښ راسے، نه دی دا

اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸۳﴾ قُلْ لِّمَنِ

مګر دروغ قصے د مخکنو خلقو دی۔ ته اُوایه د چا په اختیار کښ ده

ف۸۰ :- دا بل عقلی دلیل دے او په دیکښ ئے انقلاب د حالتونو ذکر کړیدے اختلاف د شپے او د ورځے په رنړا او تیارے سره او په اوږدوالی او لنډوالی سره او په تلو راتلو سره مراد دے هر کله چه احیاء امانت هر وخت نوے نوے کیږی نو هغه ئے په فعل مضارع سره ذکر کړو او اختلاف د شپے او ورځے همیشه جاری وی نو هغه ئے په اسم سره ذکر کړو۔

ف۸۱، ف۸۲، ف۸۳ :- په دے آیتونو کښ زجر دے په انکار د بعث بعد الموت سره روستو د ذکر کولو د دلیلونو د قدرت نه۔ او په اَلْاَوَّلُوْنَ کښ حواله ده د دے سورت په ف۳۵ آیت یا ته دے او دا سے آیا تونه په سورة نمل کښ ف۶۷ ف۶۸ راغلی دی۔ او وجه د فرق هلته به ذکر کړیشی۔

الْاَرْضُ وَمَنْ فِيْهَآ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۴﴾

زمکه او څوک چه په دے زمکه کښ دی که چرے تاسو پوهه لرئ ۔

سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۵﴾

خامخا دوی به وائی الله تعالیٰ لره (اختیار دے)، اُوایه آیا نو ولے نصیحت نهٔ قبلوئ ۔

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ

اُوایه څوک دے اختیارمند دَ اوؤ آسمانونو او اختیارمند

الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۸۶﴾ سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ

دَ عرش لوے شان والا ۔ خامخا دوی به وائی الله تعالیٰ لره (اختیار دے)

قُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۸۷﴾ قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ

اُوایه آیا نو ځان نهٔ ساتئ دَ شرک نه ۔ ته اُوایه دَ چا په لاس کښ

مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ يُجِيْرُ وَلَا

پوره بادشاهی دَ هر څیز ده او هغه پناه ورکوی دَ هر مصیبت نه او نشی ورکیدے

يُجَارُ عَلَيْهِ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۸﴾

پناه دَ هغهٔ په مقابله کښ که چرے تاسو پوهیږئ ۔

سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ فَاَنّٰى تُسْحَرُوْنَ ﴿۸۹﴾

خامخا دوی به اُوائی الله تعالیٰ لره (اختیار دے) اُوایه نو څرنګ اړولے شئ تاسو (دَ حق نه)

۸۴، ۸۵، ۸۶، ۸۷، ۸۸، ۸۹ ۔ په دے آیتونو کښ عقلی دلیلونه اعترافی دی (یعنی په دیکښ اقرار دَ مشرکانو ئے ذکر کړیدے او په دیکښ اثبات دَ توحید او دَ بعث بعد الموت دواړو دے) او په دیکښ احسن (ښائسته) ترتیب دے ځکه چه اول دَ زمکے او دَ زمکے اوسیدونکو په باره کښ تپوس دے بیا پورته اوؤه آسمانونه او بیا دَ هغے نه اوچت عرش ئے ذکر کړیدے ۔ بیائے دے ټولو ته عام شامل صفت دَ بادشاهئ او دَ تصرف ذکر کړیدے او په دے ټولو دلیلونو کښ دَ تصرف او دَ واکدارئ دَ الله تعالیٰ ذکر دے ۔

بَلْ اَتَيْنٰهُمْ بِالْحَقِّ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۹۰﴾

بلکه راوړي دي موږ دوی ته حق او یقیناً دوی خامخا دروغ وائي۔

مَا اتَّخَذَ اللّٰهُ مِنْ وَّلَدٍ وَّمَا كَانَ مَعَهٗ

نه دے نیولے الله تعالیٰ هیڅ څوي او نشته د هغه سره برابر

مِنْ اِلٰهٍ اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۢ

څوک واکدار دغه وخت به بوتلے وے هر اختیار مند

فائده :- د اول سره يې تَذَكَّرُ ذکر کړيدے ځکه چه زمکه نزدے ده د هغې نه يادداشت ښه حاصليږي او د آسمانونو او عرش سره يې تقوىٰ ذکر کړيده ځکه چه آسمانونه او عرش دلالت کوي په عظمت او هيبت شان بانديے او د هغې سره تقوىٰ مناسب ده۔ په دريم کښ تُسْحَرُوْنَ يې سره د تعجب نه ذکر کړيدے يعني چه بادشاهي، او پناه د مصيبت نه ورکول، او عجز د ټول مخلوق د الله تعالیٰ د مقابلے کولو نه داچه يوکس د الله تعالیٰ صفت منی او بيا هم د هغه سره شريک جوړوي نو د دغه کس دماغ خراب وي او مجنون وي۔

فائده :- هر کله چه رب (په دويم دليل کښ) په معنیٰ د تصرف کوونکي دے نو مراد دا دے چه تصرف د آسمانونو او د عرش د چا د پاره دے نو د دے وجے نه په جواب کښ لام په لِلّٰه کښ ذکر کړے شو۔

۹۰ :- دا زجر دے يعني قرآن کښ ذکر د توحيد او اثبات د بعث بعد الموت حق مسئله ده ليکن دوی چه الله تعالیٰ لره شريک يا ولد منی او د بعث نه انکار کوي نو دا دروغ دی۔

بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ط

هغه څيز لره چه ده پيدا كړې وو او خامخا زورآور شوى به وو بعضې په بعضې باندې (يعني په يو بل)

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۹۱﴾ لا

باندې) پاک دے الله تعالىٰ د هغې نه چه دوى ئې بيانوى .

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا

عالم دے په هر پټ او ښكاره باندې پس اوچت دے د هغې نه

يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾ ع قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ

چه دوى ئې د هغه سره شريكوى . ته اُووايه اے ربه زما كه چرے ته ځائے ما ته

۵ ع ۱۵ ۵

سا۹ :- دا بيان د هغه حق دے چه مخكښ آيت كښ ئې ذكر كړو او رد دے په عقيده د اتخاذ ولد (چه ادنیٰ شريک دى) او رد دے په هغه شريک چه د الله تعالىٰ سره ئې په صفت د تصرف يا په حق د الوهيت كښ برابرگنړى - او حاصل د دليل دا دے چه اِلٰهِ مستقل اختيار والا ته وائى نو كه بل څوک الله وے نو هغه به پيدائش كړے وے او بيا به ئې خپل مخلوق د بل نه ضرور جدا كولے د پاره د دے چه مستقل تصرف پكښ اوكړى او په دغه وخت به ئې د بل اِلٰه په برخه باندے ضرور غلبه او تسلط كولے او جګړه به ئې ورسره كولے چه يو اِلٰه د بل اِلٰه حق او تصرف نه مني ځكه چه د دۀ په الوهيت كښ نقص راځي - او هر كله چه يو غلبه په بل باندے كولے نو هغه مغلوب اِلٰه نشي كيدے او دا دليل يقيني قطعي دے لكه چه د دے تفصيل سورة انبياء ۲۲ كښ تير شويدے -

عَمَّا يَصِفُوْنَ ، اشاره ده د نسبت د ولد او د شريک الله تعالىٰ ته ځكه ولديت او شركت صفات دى -

سا۹۲ :- هر كله چه مخكښ دليلونو كښ تصرف د الله تعالىٰ ذكر شوے وو نو په دے آيت كښ صفت د علم د هغۀ ذكر كوى او ورسره تفريع ده په دے دليل باندے په رد د شرک - تسبيح د صفاتو سره تعلق لرى او علو د ذات سره تعلق لرى د دے وجے نه د اول سره يصفون او د دويم سره يشركون ذكر كړيدے -

مَا يُوعَدُونَ ﴿۹۳﴾ رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِي

هغه عذاب چه دوی سره يې وعده کيږي شي - اے ربه پس مه ګرځوې ما لره

فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿۹۴﴾ وَإِنَّا عَلٰٓى أَنْ نُّرِيَكَ

په قوم ظالمانو کښ - او يقيناً يو مونږ خبره بانديے چه او خايو مونږ تاته

مَا نَعِدُهُمْ لَقٰدِرُونَ ﴿۹۵﴾ اِدْفَعْ بِالَّتِي

هغه چه دوی سره يې وعده کوو خامخا قدرت لرونکی يو - دفعه کوه په هغه طريقه

هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ ۚ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا

چه خائسته ده بد يې لره ، مونږ ښه پوهيږو په هغه خبرو چه

يَصِفُونَ ﴿۹۶﴾ وَقُلْ رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ

دوی يې بيانوی - او ته اُوايه اے ربه زما پناه غواړم په تا سره

س۹۳ ، س۹۴ :- په دے آيا تونو کښ عذاب دنيوی ته اشاره ده دَپاره دَ مشرکانو او دا رنګ تعليم دَ يو ادب دَ دُعا دے دعوت کوونکی ته -

نُرِيَنِّي ، يعنی زما په ژوند او په موجودګئ کښ په ظالمانو بانديے عذاب راولے -

فَلَا تَجْعَلْنِي فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ، کښ مراد دا دے چه ما دَ سبب دَ عذاب دَ دوی نه بچ اوساتے چه هغه شرک او ظلم دے او حديث دَ ترمذی کښ هم دَ دے پشان دعا ذکر کړيده (واذا اردت فی الناس فتنة فاقبضنی اليك غير مفتون)-

س۹۵ :- په دے کښ دليل دَ عذاب دَ راتلو ذکر کړے دے چه ستا په ژوند کښ په عذاب راوستلو بانديے الله تعالى قدرت لری -

س۹۶ :- په دے آيت کښ دَ داعی دَپاره دويم ادب علمی دے - الَّتِي أَحْسَنُ نه مراد دعوت دَ توحيد او سنت دے او السَّيِّئَةَ ، نه مراد شرک او بدعات او نور ګناهونه دی - او دا رنګ مراد دَ الَّتِي أَحْسَنُ نه خائسته اخلاق دی لکه صبر او تحمل او عفو کول او سَيِّئَةَ نه مراد دَ مخالف دَ طرف نه ظلم کول کنځل کول وغيره دی - او دا رنګ الَّتِي أَحْسَنُ نه مراد دعا ده چه مخکښ آيت کښ تيره شوه او سَيِّئَةَ نه مراد عذاب دے-

مِنْ هَمَزٰتِ الشَّيٰطِيْنِ ﴿۹۷﴾ وَاَعُوْذُ بِكَ

دَ وسوسو (تیز وډنکو) دَ شیطانانو نه - او پناه غواړم په تا سره

رَبِّ اَنْ يَّحْضُرُوْنِ ﴿۹۸﴾ حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ

اے ربه زما دَ حاضریدلو دَ دوی نه ما ته - (دوی به مخالفت کوی) تر هغې وخت پورے چه

اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُوْنِ ﴿۹۹﴾

یو تن دَ دوی ته مرګ وائی به اے ربه زما واپس کړے ما لره۔

لکه چه په سورة رعد ۲۲ کښ تیر شویدی او سورة قصص ۵۴ او حم سجده ۳۴ کښ۔

۹۷، ۹۸ :۔ پدے آیاتونو کښ دریم ادب دے په طریقه دَ دُعا سره او دَ هَمَزٰتِ نه مراد دَ شیاطینو هغه وسوسے دی چه دَ خلقو په سینو کښ په باره دَ دعوت کوونکو کښ اچوی دے دَپاره چه هغوی دا دعوت قبول نه کړی - او اَنْ يَّحْضُرُوْنَ نه مراد دا دے چه شیطان داعی ته حاضر شی دَ هغه په زړه کښ ریاء، تکبر او غضب وغیره واچوی او دعوت ته نقصان اورسیږی۔

۹۹ :۔ دا آیت تعلق لری دَ ۹۰ سره او تخویف دے یعنی دوی شرک او کفر کښ مشغول دی تر مرګ پورے بیا په وخت دَ مرګ کښ سوال وته ازماتوته کوی دَ واپس کیدلو دنیا ته۔

ارْجِعُوْنِ ئے جمع صیغه ذکر کړیده دَپاره دَ تعظیم دَ رب تعالیٰ یا دا جمع دَپاره دَ تکرار ده یعنی زر زر وائی چه ما واپس کړه.
او دا وینا په وخت دَ یقین دَ مرګ کښ ده او دا سے قول دَ مؤمن ګنهګار هم دے لکه سورة منافقون ۱۰ کښ - یا دا وینا په عالم برزخ کښ ده پس دَ مرګ نه۔ او دا سے آیاتونه په ډیر سورتونو کښ دی لکه سورة اعراف ۵۳ سورة ابراهیم ۴۴ سورة انعام ۲۷، سجده ۱۲ مؤمن ۱۱، فاطر ۳۷ شوری ۴۴ بعضے په وخت دَ نزع کښ او بعضے په وخت دَ نشور کښ او بعضے په قبر کښ او بعضے په وخت دَ پیش کیدلو کښ الله تعالیٰ ته یا او ر دَ جهنم ته۔

لَعَلِّيْٓ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ

د پاره د دے چه عمل اوکړم نیک عمل په بدله د هغې کښ چه ما پریخودے دے داسې به نه وی یقیناً دا یوه خبره ده چه دے وائی هغې لره ۔ او د دوی مخ ته

اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ

بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ۞۱۰۰ فَاِذَا نُفِخَ

لویه پرده ده تر هغه ورځ پورے چه دوی به دوباره ژوندی کولے شی۔ پس هر کله چه پوکے اوکړے شی

فِى الصُّوْرِ فَلَآ اَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ

په شپیلۍ کښ پس نه به وی نسبونه په مینځ د دوی کښ په دغه ورځ

وَّلَا يَتَسَآءَلُوْنَ ۞۱۰۱ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُهٗ

او نه به دوی تپوس نه کولے شی د یو بل نه ۔ پس هغه څوک چه درانه شی عملونه د هغوی

۱۰۰ :۔ په دیکښ مقصد د واپسئ ذکر کوی او عمل صالح شامل دے توحید او سنت ته ۔ تَرَكْتُ په معنیٰ د پریخودلو او برباد ولو دے په كَلَّا سره د هغه جواب دے یعنی هیڅ کله نشی واپس کیدے ۔ او دوی هیچرے عمل صالح نه کوی لکه سورة انعام ۲۸ کښ تیر شویدی ۔ او بیا ئے د واپس راتللو نه مانع ذکر کړو چه هغه برزخ دے او هغه په اصل کښ مانع او پردے ته وائی او هغه وخت چه د مرګ نه تر دوباره ژوند پورے دے هغې ته عالم برزخ وئیلے شی که روح په علیین کښ وی او که په سجین کښ وی، او بدن که په قبر کښ وی ، او که بل ځائے کښ وی ، روغ وی ، او که ذرے ذرے وی ، نو هغې ته برزخ وئیلے کیدیشی ۔ دا برزخ غیر محسوسی دے لکه برزخ په مینځ د بحرین کښ په سورة رحمٰن ۲۰ کښ هغه هم محسوس نه دے ابن کثیر د ابو صخر نه نقل کړے دے یعنی دوی نه په دنیا کښ دی او نه په آخرت کښ دی ۔

۱۰۱ :۔ د دے آیت نه تخویف اخروی شروع کوی او مراد د صُوْر نه دویمه شپیلۍ ده چه د دوباره ژوندی کیدلو د پاره ده او احتمال شته چه اوله شپیلۍ مراد شی او دغه قول د بعضے مفسرینو دے ۔

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾ وَمَنْ خَفَّتْ

نو دغه پس دوی بچ دی د عذاب نه. او هغه څوک چه سپک وی

مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا

عملونه د هغوی نو دا هغه کسان دی چه تاوانی کړیدی

أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ﴿١٠٣﴾ تَلْفَحُ

ځانونه خپل په جهنم کښ به دوی همیشه وی. سوځوی به

وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ﴿١٠٤﴾

مخونه د دوی لره اور او دوی به په هغې کښ بد شکله وی.

أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنتُمْ

آیا نه وې آیا تونه زما چه لوستلے کیدل په تاسو باندے پس تاسو وئ

بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿١٠٥﴾ قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ

چه د روغژن کول هم هغې لره - دوی به وائی اے ربه زمونږه غلبه شوے وه

فَلَآ أَنسَابَ، نه مراد دا دے چه نسبونه فائده نشي ورکولے بلکه د یو بل نه به تیختہ کوی لکه سورة عبس ٣٥ کښ - وَلَا يَتَسَاءَلُونَ، که اعتراض اوکړیشي چه سورة صافات ٢٧ کښ تساءل ذکر دے نو دے آیت کښ د هغې نفی څنګه اوشوه؟ اول جواب دا دے چه د قیامت حالات مختلفه دی بعضے حالاتو کښ کولے شي - دویم جواب دا دے چه دے آیت کښ اوله شپیلۍ مراد ده، پس دغه وخت به تساءل نشي کولے او د دویمه شپیلۍ نه روستو به کولے شي دا تفسیر قرطبی کښ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړیدی. دریم جواب دا دے چه د یو بل نه د رحم کولو په باره کښ هیڅ نشي غوښتلے او د زورنے تپوس نه به کوی.

١٠٢ دا مختصر بشارت دے او مراد د مَوَازِينُ نه عملونه دی او ثِقَل نه مراد موافقت د هغې دے د کتاب الله او سنت رسول سره دا سے په سورة اعراف ٨ کښ تیر شویدی.

١٠٣ نه تر ١١٥ پورے پدے آیتونو کښ اګوه احوال د عذاب او اګوه اسباب د

عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ ﴿۱۰۶﴾

په موږ باندې بدبختي زموږه او موږه وو ډله بې لارې۔

رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْهَا فَاِنْ عُدْنَا فَاِنَّا

اے ربه زموږه اوباسه موږه د دېنه پس که موږ واپس شو (گمراهئ ته) نو يقيناً موږ

ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۰۷﴾ قَالَ اخْسَئُوْا فِيْهَا

به ظالمان يو۔ او به وائي الله تعالیٰ کوروئ شئ لاړے سپو) په جهنم کښ

وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾ اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ

او ما سره خبرے مه کوئ۔ يقيناً وه يو ډله

مِّنْ عِبَادِيْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا

د بندګانو (موحدينو) زما نه هغوي به وئيل اے ربه زموږه ايمان راوړے موږ

فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾

نو بخنه اوکړه موږ ته او رحم اوکړه په موږ باندے او ته يې غوره د رحم کوونکو نه۔

فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا حَتّٰٓى اَنْسَوْكُمْ

پس کړځول تاسو هغوي لره سپک سپور تر دے چه غافل يې کړئ تاسو

ذِكْرِيْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

د توحيد زما نه او وئ تاسو چه په هغوي پورے مو خندا کوله۔

عذاب ذکر کړيدی۔ هغه په فکر او تدبر سره معلوميږی۔ کالِحُوْنَ، د دے بدشکلئ تفصيل په حديث د ترمذی کښ ذکر شويدے چه مخونه به د دوی په اور کښ اوسوځی نو بره شونډه به يې د سر مينځ پورے اورسيږی او لاندے شونډه به تر نامه پورے اورسی او غابونه به يې ښکاريږی. شِقْوَتُنَا، د دے نه مراد خواهشات او مزے د دنيا دی چه سبب د بدبختئ دے يا مراد د دے نه تقديری شقاوت دے۔ اِخْسَئُوْا، عرب دا کلمه د سپو د شړلو د پاره ذکر کوی نو په دے کښ اشاره ده چه د دوی حال به

إِنِّي جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوا أَ لا

یقیناً ما بدله ورکړه هغوی ته نن ورځ په وجه د صبر د دوی

أَنَّهُمْ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴿١١١﴾ قَالَ كَمْ لَبِثْتُمْ

چه یقیناً دوی خاص دوی کامیاب دی ۔ اوبه وائی الله تعالیٰ څومره وخت تیر کړی وو تاسو

فِي الْأَرْضِ عَدَدَ سِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا لَبِثْنَا

په زمکه کښ په شمار د کلونو سره ۔ دوی به اووائی تیره کړیده مونږ

يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ ﴿١١٣﴾

یو ورځ یا ټکړه د ورځې پس تپوس اوکړه د شمار کوونکو نه ۔

قَالَ إِنْ لَبِثْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا ۖ لَوْ أَنَّكُمْ

اوبه وائی الله تعالیٰ نه دی تیر کړی تاسو مګر لږ وخت که چرې

كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١٤﴾ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا

تاسو پوهیدلی ۔ آیا پس ګمان کړیدی تاسو چه یقیناً

د سپو پشان شی یا دا چه دنیا کښ دوی د سپو پشان موحدینو (دعوت کوونکی) لره داړل اوچیچل او په هغوی پسې ئې غپل ۔ لکه روستو آیت کښ ذکر کوی چه تاسو موحدینو پورې مسخرې اوخندا کوله او مراد د فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي ، نه هغه کسان دی چه په هغوی کښ هغه صفتونه وو چه د دې سورت په ابتداء او په مینځ کښ ذکر کړې شویدی او سره د دې نه دوی د الله تعالیٰ نه مغفرت او رحم غواړی ۔ وَكُنْتُمْ مِنْهُمْ تَضْحَكُونَ ، لکه چه سورة تطفیف ۲۹ کښ ذکر دی ۔ فَاسْأَلِ الْعَادِّينَ ، د دې نه مراد حساب دان خلق دی یا ملائیک کِرَامًا كَاتِبِينَ دی یعنی د ډیر هیبت او حیرانتیا د وجې نه د اصل جواب نه غافل دی ۔

أَفَحَسِبْتُمْ ، دا زورنه هم په آخرت کښ به وی ۔ یا دا د سر نه خبره ده او زورنه ده منکرینو د توحید او د بعث نه ۔

خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا

پس ایا گمان کوئ تاسو چه پیدا کړي یو مونږ تاسو بے فائدے او یقینًا تاسو به مونږ طرف ته نشئ

تُرْجَعُوْنَ ﴿١١٥﴾ فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ

راګرځولے . پس اوچت دے الله تعالیٰ بادشاه دے

الْحَقُّ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ رَبُّ الْعَرْشِ

حق دے نشته حقدار د بندګئ سِوا د هغه نه رب دے د عرش

الْكَرِيْمِ ﴿١١٦﴾ وَمَنْ يَّدْعُ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا

عزتمند . او چا چه رابلل او کړو د الله تعالیٰ سره بل مددګار ته

اٰخَرَ ۙ لَا بُرْهَانَ لَهٗ بِهٖ ۙ فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ

(چه الله ئے ګڼړی) نشته دلیل ده لره په هغے باندے پس یقینًا پوره حساب د ده

عَبَثًا ، عبث نه مراد دا دے چه مکلف نه دی او حساب کتاب ورسره نه کیږی .

١١٦ :- دا دلیل دے د مخکښ آیت یعنی الله تعالیٰ عبث کار نه کوی هغه د عبث کارونو نه لوے دے یا تفریع ده په ټول سورت باندے یعنی هر کله چه د سورت په ابتدا کښ ذکر کړو فَتَبَارَكَ اللّٰهُ او نور تصرفات او دلیلونه ئے د ربوبیت او الوهیت ذکر کړل او اثبات د بعث بعد الموت ئے ذکر کړو نو د هغے نتیجه ئے ذکر کړه چه معلومه شوه چه الله تعالیٰ لوے دے او پاک دے د شریکانو نه او د عبث کارونو نه او ورپسے څلور صفات د الله تعالیٰ ذکر کړل د پاره د دلیل .

اَلْكَرِيْمِ ، عرش د الله تعالیٰ کریم دے ځکه چه ټول نعمتونه رحمتونه د هغے نه نازلیږی .- او دا رنګ کریم دے یعنی د هغے مقابله څوک نشی کولے او عزت ئے نشی کمولے .- او کریم په معنیٰ د خائسته هم دے .-

او دے آیت کښ دعوی د توحید ده په ذکر د عُلُوّ د الله تعالیٰ سره او په توحید د الوهیت او ربوبیت سره .

عِنْدَ رَبِّهٖ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿١١٧﴾

د رب د ده سره دے یقیناً نشي بچ کیدلے کافران۔

وَقُلْ رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَاَنْتَ

او اُوایه ته اے ربه زما بخنه اوکړے او رحم اوکړے او ته

خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿١١٨﴾ ع

٦ ع ٧

غوره د رحم کوونکو ته یئے۔

١١٧:۔ دا تفریع ده په مخکښ آیت باندے په رد د شرک فی الدعاء سره۔

لَا بُرْهَانَ، دا قید واقعی دے یعنی په شرک باندے هیڅ دلیل نشته۔

فَاِنَّمَا حِسَابُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ، اشاره ده غټ والی د سزا د شرک ته او اشاره ده چه د ده ته بخنه نه کیږی۔

اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ، دا اجمالی حساب یئے ذکر کړو او په دیکښ تصریح ده چه دُعاء د غیر الله کفر دے او دا جمله د سورت د ابتداء په مقابله کښ ده چه قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ، یعنی فلاح په کفر سره نشته بلکه فلاح خاص ده په ایمان پورے۔

١١٨:۔ دا امر دے نبی صلی الله علیه وسلم ته په دُعا سره د پاره د اُمتیانو چه د کفر او د شرک نه یئے ځان بچ کړیدے او هغه مؤمنان دی چه د هغوی صفتونه د سورت په اول کښ بیان شول نو په آخر کښ د هغوی د پاره دُعا د نبی ذکر شوه۔ او په ١٠٩ کښ دا دُعا د ټولو موحدینو ذکر کړے وه۔

سورة النور مدنية	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	اٰياتها ۶۴ رکوعاتها ۹

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

سُوۡرَةٌ اَنۡزَلۡنٰهَا وَفَرَضۡنٰهَا وَاَنۡزَلۡنَا

دا سورت دے لوے شان والا مونږ دا نازل کړے دے او فرض کړے مونږ (عمل کول په دے باندے) او نازل کړے مونږ

فِيۡهَاۤ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُوۡنَ ①

په دے کښې حکمونه ښکاره د دے د پاره چه یاد کړئ حکمونه د الله تعالیٰ۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورة نور

ربط:۔ د مخکښې سورت سره دا دے۔ ۱ مخکښې سورت کښې منع کول د مؤمنانو دی د اوصاف المشرکین نه نو په دے سورت کښې د صفاتو د منافقینو نه منع کول کوی۔ ۲ مخکښې سورت کښې مسئله د توحید په دلائیل نقلیو او عقلیو سره ثابت کړه نو په دے سورت کښې منع کول کوی د اسبابو د طعن نه په مؤحد باندے چه د هغے د وجے نه منافقان به تلے لګوی په مؤمن باندے۔

دعویٰ د سورت:۔ دروازه د فحشاء او تهمتونو بندول په منع کولو سره د هغے د اسبابو نه او په ذکر د ادابو سره په وخت د تهمت لګیدلو کښې، او په ذکر د ډیرو زجرونو او تخویفاتو د پاره د تهمت لګوونکو۔ او په ذکر د صفات د مؤمنانو او منافقینو د پاره د تمیز او د فرق۔ او دعوت دے توحید ته په ذکر د مثالونو سره او په ذکر کولو د عقلی دلیلونو او په رد سره په اقسامو د شرک چه شرک فی العلم او فی التصرف او فی العبادة دے۔ او پنځلس اسماء حسنیٰ د الله تعالیٰ۔ تفسیر قرطبی کښې لیکلی دی مقصد د دے سورت احکام د ستر او د پاکدامنئ دی او عمر رضی الله عنه کوفے والا ته لیکلی وو چه خپلو زنانو ته دا سورت اوښایئ۔

خلاصه د سورت:۔ د دے تقسیم د پنځو بابونو ته۔ اول باب تر منا پورے دے په دے باب کښې اول ترغیب دے د راتلو لکو حکمونو منلو ته

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ

زناکاره زنانه او زناکار سړے نو اووهئ هر

وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَّلَا تَأْخُذْكُمْ

یو د دے دواړو نه سل سل دُرے او نه دے نیسي تاسو لره

بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللهِ إِنْ كُنْتُمْ

په دے دواړو باندے ترس کول په جاری کولو د دین د الله تعالیٰ کښ که چرے یئ تاسو

تُؤْمِنُونَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ج

چه ایمان لرئ په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ باندے

وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۲﴾

او حاضر دِشي عذاب د دے دواړو ته یو ډله د مؤمنانو نه۔

او دا مأخذ دے د دعوی د سورت بیا څلور احکام ئے ذکر کړے دی د پاره د بندولو د فحش کارئ سلا آیت کښ ترغیب دے۔

تفسیر سلا:۔ په دے اول آیت کښ ترغیب دے د دے سورت په عظمت شان ذکر کولو سره په یو څو وجو سره۔ اول یعنی دا د قرآن اوچت شان والا ټکړه ده۔ دویم دا چه نازل کړے شویده۔ دریم دا چه په دے باندے عمل کول الله تعالیٰ فرض کړیدی۔ څلورم دا چه د دے حکمونه واضح او ښکاره دی۔ پنځم دا چه په دیکښ د تذکرا ونصیحت اخستلو فائده ده۔

سلا:۔ په دیکښ اول حکم دے د فحشاء د بندولو د پاره په جاری کولو د حد د زنا په سل دورو وهلو سره۔ او ظاهر د آیت نه دا ده چه هر زناکار سړے او زنانه که نکاح او واده ئے کړے وی او که نه وی کړی په هغوی باندے سل دورے وهل دی او بیا د حدیث صحیح په وجه سره په واده شوؤ باندے ورسره رجم دے سرهٔ د اختلاف د اهل علم نه او په غیر واده والو باندے د یو کال د پاره بهر د ملک نه شړل دی سرهٔ د اختلاف د علماء نه او زانی زانیه ورته هله وئیلے کیدے شی چه

اَلزَّانِیْ لَا یَنْکِحُ اِلَّا زَانِیَةً اَوْ مُشْرِکَةً ز

زناکار سړے نکاح نه کوی مګر د زناکارے یا مشرکے زنانه سره

وَّالزَّانِیَةُ لَا یَنْکِحُهَآ اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِکٌ ج

او زناکاره زنانه نکاح نه کوی د هغے سره مګر زناکار یا مشرک سړے

وَحُرِّمَ ذٰلِکَ عَلَی الْمُؤْمِنِیْنَ ③

او حرام کړے شویدے دا کار په مؤمنانو باندے -

زنا ئې ثابت شی په اقرار یا په شرعی شهادت سره - او اَلزَّانِیَةُ دَ دے وجے نه ئې مخکښ کړیدے چه دَ زنا کولو سبب اکثر دَ زنانه دَ طرف نه وی او بله وجه دا چه زنا کول په زنانه کښ ډیر شرم او ډیر نقصان دے - فَاجْلِدُوْا کښ عام خطاب دے مسلمانانو ته ځکه دا نظام قائمول په ټولو مسلمانانو باندے واجب دی یا دا خاص خطاب دے اُمراؤ دَ مسلمانانو ته نو دا دلیل دے چه اسلامی خلافت قائم کول په مسلمانانو باندے فرض دی -
وَلَا تَاْخُذْکُمْ، دَ دے مراد دا چه دَ الله تعالیٰ پدے حکم نافذ کولو کښ دَ زناکارانو سره هیڅ نرمی او رعایت کول جائز نه دی یعنی دَ سلو دورو نه کم وهل یا په دمه وهل یا معاف کول نه دی پکار -
وَلْیَشْهَدْ عَذَابَهُمَا، دا دَ دے دَپاره چه عام خلق هم عبرت واخلی او بل دَ دے دَپاره چه دا مجرمان هم ښه اوشرمیږی - او دا حکم په ټولو حدودو او قصاص کښ دے چه دَ خلقو په وړاندے وی دَپاره دَ عبرت اخستلو -
طَآئِفَةٌ، یو شخص ته هم وئیلے کیږی او دَ زیاتو څه حد نشته -
۳:- پدے آیت کښ دویم حکم دے دَ فحش کاری دَ بندولو او مقصد دَ دے نفرت ورکول دی مؤمنانو ته دَ زنا او دَ اهل زنا نه دی او دَ هغوی نه تعلق قطع کول لکه څنګه معامله چه دَ شرک والا سره کوی -
فائده :- پدے آیت کښ اشکال دَ دوؤ وجو نه دی -
اوله وجه دا ده چه دَ آیت ظاهر دا دے چه زانی نکاح نه کوی مګر صرف دَ زانیے او مشرکے سره یعنی دَ دهٔ ښځه به یا زانیه وی یا مشرکه وی - او دا جمله خبریه ده او حال دا دے چه ډیر زناکار سړی دی چه ښځے

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ ثُمَّ

او هغه کسان چه بدنامه لګوي (په زنا کارئ سره) په پاکلمنو نفسونو باندې بيا

لَمْ يَاْتُوْا بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوْهُمْ

رانوړي | څلور | ګواهان | تو او وهئ دوی لره

ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ

اتيا | دُرې | او مه قبلوئ | دوی لره

ئې پاکلمنې وي او ډيرې زنا کارې ښځې دي چه خاوندان ئې پاک وي -
دويم اشکال دا دې چه دَ وَحُرِّمَ ذٰلِكَ، ظاهري معنیٰ دا ده چه نکاح
دَ زنا کارو سره په مؤمنانو باندې حرام دې او حال دا دې چه مشهور
قول دَ علماء دين دا دې چه نکاح دَ زنا کارې دَ مؤمن سره جائز
دې په دليل دَ عام آيا تونو دَ نکاح سره چه اُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ
او وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ، جواب دا دې چه پدې آيت کښې دَ مفسرينو
ډير اقوال دي بعضو دا آيت خاص کړيدې په معيّن مؤمنانو
(اصحاب صفّه) پورې او بعضو خاص کړيدې په معيّن بدکارو ښځو
پورې ليکن تخصيص دَ آيت کمزورې قول دې ځکه چه قوي دليل
ئې نشته - او دَ اکثر مفسرينو په نيز آيت عام دې ليکن دَ بعضو په نيز
توجيه دا ده چه پدې آيت کښې نفي په معنیٰ دَ انکار ده او آيت منسوخ
دې - او دَ بعضو په نيز په آيت کښې عادت اکثريه دَ بدکارو ذکر کوي
چه په قرينه دَ الخبيثات للخبيثين، او پدې توجيه سره جائز ده که
نکاح په معنیٰ دَ عقد سره او که په معنیٰ دَ جماع سره شي - او ذٰلِكَ
اشاره ده دې عادت ته او دا روستنئ توجيه غوره ده او دَ دې مقصد
دا دې چه زنا ډير قبيح عمل دې اثر ئې په دواړو طرفونو باندې
پوشان دې يعنې پدې عمل سره معلوميږي چه دا بل جانب هم
زنا کار دې - که دې عمل ته ګناه وائي او کوي ئې يا دا بل جانب مشرک
دې ځکه چه دا عمل جائز ګڼړي نو دلالت کوي په خيانت دَ دواړو طرفونو
باندې دَ دې وجه نه زاني دَ خپلې ښځې په زنا خفه کيږي او هغه ته دَيّوث ويلې کيږي.

شَهَادَةً اَبَدًا ۚ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ

گواهي	هيخ چرے	او	دغه	كسان	دوی

الْفٰسِقُوْنَ ۝ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا

نافرمان دی۔	مګر	هغه كسان	چه	توبه	اوكړی

نو حاصل دا دے چه دَ زناكارو په دَيو بل سره تعلق وی دَ نكاح اودَ غير نكاح ليكن مؤمنانو لره دَ دوی سره تعلق لرل حرام دی يعنی دَ دوی نه دِ براءت اوكړی او دَ دوی سره دِ دوستانه نه لری دَپاره دَ دے چه دوی دا خباثت پريږدی يا دَ معاشرے دَپاكانو نه جدا شی۔

سک ،۔ په دے آيت كښ دريم حكم دے دَپاره دَ بند ولو دَ استعمال دَ لفظ دَ فحش كارئ روستو دَ بند ولو دَ عمل دَ هغے نه او دے ته حد (سزا) دَ قذف (كنځل دَ زنا) وئيلے كيږی۔ او اصل سبب دَ نزول دَ دے آيات تو تهمت لګول وو په عائشه رضی الله عنها باندے ځكه په آيت كښ دَ زنا نو صفات يے ذكر كړيدی ليكن حكم تاريينو نه ته هم شامل دے او بعضو وئيلے دی چه مراد دَ المحصنات نه النفوس المحصنات دی نو آيت عام دے تاريينو او زنانو دواړو ته۔

بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ، په لفظ اربعة كښ ة دلالت كوی چه مراد دَ شهداؤ نه صرف نارينه دی۔ (دَ زنانه شهادت په باب دَ زنا كښ صحيح نه دے) ځكه چه اسماء دَ عدد كښ چه ة وی نو تميز په يے مذكر وی۔

او دَ دوی يے درے سزاګانے ذكر كړيدی۔ يو اٹيا دورے وهل دويم شهادت دَ دوئ نه قبولول، اشاره ده چه دا سے انسان دَ معاشرے نه ويستل غواړی ځكه چه دے فساد خوروی۔ دريم حكم كول چه دے فاسق دے او دَ فاسق شرعی احكام په دهٔ باندے مرتب كيږی او دا ځكه چه دهٔ دروغ اوئيل بل دا چه دَ مسلمان بے عزتی يے كړيده او دا دواړه ګناهونه كبيره دی۔ او په دے آيت كښ دليل دے چه څوك بهتان په عائشه رضی الله عنها رشتيا ګڼړی او حال دا چه په هغے باندے څلور ګواهان نشته نو دغه مردود الشهادة دی لكه اكثر شيعه ګان دَ دے وخت۔

مِنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ وَاَصۡلَحُوۡا ۚ فَاِنَّ اللّٰهَ

روستو دَ دے کار نه او نیک کړی عملونه پس یقیناً الله تعالیٰ

غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ۝۵ وَالَّذِيۡنَ يَرۡمُوۡنَ

بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ او هغه کسان چه بدنامه لګوی

اَزۡوَاجَهُمۡ وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهُمۡ شُهَدَآءُ

په بیبیانو خپلو باندے (په نسبت دَ زنا سره) او نه دی دوی لره ګواهان

اِلَّاۤ اَنۡفُسُهُمۡ فَشَهَادَةُ اَحَدِهِمۡ

مګر ځانونه دَ دوی پس ګواهی دَ یو دَ دوی (خاوند) لره

اَرۡبَعُ شَهٰدٰتٍۢ بِاللّٰهِ ۙ اِنَّهٗ لَمِنَ

څلور ګواهے دی په قسم دَ الله تعالیٰ باندے چه یقیناً دے خامخا دے

الصّٰدِقِيۡنَ ۝۶ وَالۡخَامِسَةُ اَنَّ لَعۡنَتَ

دَ رشتینو نه۔ او پنځمه ګواهی داده چه لعنت

اللّٰهِ عَلَيۡهِ اِنۡ كَانَ مِنَ الۡكٰذِبِيۡنَ ۝۷

دَ الله تعالیٰ دِ وی پداۀ باندے که چرے دے وی دَ دروغژنو نه۔

ف ۵۔ دَ دے استثناء اثر خو دَ فسق په لرے کولو کښ اجماعی دے لکه چه پدے سره ځلي بالاتفاق نه معاف کیږی لیکن دَ قبولیت دَ شهادت سره دَ دے په تعلق کښ اختلاف دے دَ بعضے اهل علم په نیز شهادت دَ دوی همیشه مردود دے او دَ بعضے اهل علم په نیز روستو دَ توبے نه دَ دوی شهادت قبولے شی۔

ف ۶، ف ۷، ف ۸، ف ۹۔ پدے آیاتونو کښ څلورم حکم ذکر کوی دَ پاره دَ بندش دَ لفظ دَ فحشاء په مینځ دَ ښځے او خاوند کښ په طریقه دَ لعان کولو سره۔ او څلور نه شهادات وائی ځکه چه اداکیږی به په لفظ دَ اشهد بالله سره او دا په معنیٰ کښ قسم دے او په پنځم کرت کښ لفظ

وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ أَنْ تَشْهَدَ
او اړوي د ښځې نه عذاب لره چه ګواهي اوکړي

أَرْبَعَ شَهٰدٰتٍ بِاللّٰهِ إِنَّهُ لَمِنَ
څلور ګواهۍ سره د قسم نه په الله تعالیٰ باندې چه یقینًا دا (خاوند) خامخا

الْكٰذِبِيْنَ ﴿۸﴾ وَالْخَامِسَةَ أَنَّ غَضَبَ
د دروغژنو نه دے ۔ او پنځم ځل (روانۍ په) چه غضب

اللّٰهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۹﴾
د الله تعالیٰ دِ وي په دے ښځې باندے که چرے دا خاوند وي د رشتینو نه ۔

د اشهد نشته بلکه د جانب د خاوند نه دعاء شرده په ځان باندے په لعنت سره په شرط د دروغ وئیلو سره او د جانب د ښځې نه دعاء شرده په ځان باندے په غضب سره په شرط د صدق ثابتیدلو د خاوند سره په دے ښځې باندے او په دعا کاتو کښ لفظ د اشهد نه استعمالیږي فائده علا ۔ په جانب د خاوند کښ لعنت ذکر دے او په جانب د ښځه کښ ئے غضب ذکر کړے دے ۔ یو وجه دا ده چه زنانه لفظ لعنت اکثر استعمالوي او هیڅ پرواه نه کوي لکه چه په حدیث کښ راغلي دي "تکثرن اللعن" د دے وجې نه دوي د پاره لفظ د غضب ذکر کړے شو او نارینه د لعنت د لفظ نه ډیر اجتناب کوي نو د هغوي په باره کښ هغه ذکر کړے شو ۔ دویمه وجه دا ده چه لفظ د غضب کښ ډیر شدت دے په نسبت د لفظ د لعنت سره ځکه چه لعنت کښ د رحمت نه محروم کیدل دي او په غضب کښ د محروم والي د رحمت سره نزول د قهر او د عذاب هم وي ۔ پس هرکله چه اثبات د صدق د خاوند سره په ښځه باندے حد د زنا ثابتیږي سره د اختلاف د اهل علم نه او ثبوت د کذب د خاوند باندے حد قذف راځي او حد زنا خوزیات دے د حد قذف نه ۔ دریمه وجه دا ده چه خاوند په داسے معامله کښ اکثر رشتني دي او ښځه سره د دینه چه زنا ئے کړے وي لیکن دروغ وائي نو څوک چه سره د علم نه انکار کوي نو هغه مغضوب علیه دي د دے وجې نه د ښځې په جانب کښ

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

او که چرته نه وے فضل د الله تعالیٰ په تاسو باندے او رحمت د هغهٔ

وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

او یقینًا دا چه الله تعالیٰ دیر توبه قبلوونکے حکمتونو والا دے ۔ یقینًا هغه کسان

جَآءُوْ بِالْاِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ؕ

چه راوړے دے دوی بدنامه په عائشه رضی الله عنها باندے یوه مضبوطه ډله ده ستاسو نه ،

لَا تَحْسَبُوْهُ شَرًّا لَّكُمْ ؕ بَلْ هُوَ خَيْرٌ

گمان مه کوئ په دے باندے بده ده ستاسو د پاره ، بلکه هغه ده فائده مند ده

لَّكُمْ ؕ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ

تاسو له ، د پاره د هر یو تن د دوی نه (سزا) د هغے ده چه کړے وی

غضب ذکر کړو ۔

فائده ۲ :۔ هر کله چه اکثر عادت د ناریینو په آرام او په دمه دمه خبره کول دی نو د دهٔ په جانب کښ ئے وَالْخَامِسَةُ (په پیش سره) ذکر کړو چه مستقله جمله ده او عطف ده په ما قبل باندے ۔ او عادت اکثری د زنانو په خبرو کښ تلوار او عجلت کول دی نو د هغے په جانب کښ وَالْخَامِسَةَ (په زور سره) ذکر کړے دے چه متصل دے د ما قبل سره یعنی ان تشهد الشهادة الخامسة ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ ، او نور احکام د لعان په احادیثو او فقه کښ تفصیلًا ذکر کړے شویدی۔

۱۰ :۔ په دے آیت کښ ترغیب دے عمل کولو ته په تیرشوؤ حکمونو باندے او ذکر د نعمت الهیه دے ، او فضل نه مراد بچ کول دی د اعمالو د فحشاء نه په اول دوه حکمونو کښ او د رحمت نه مراد بچ کول دی د اقوالو د فحشاء نه په روستو دوه حکمونو کښ په ذکر کولو د حدود او د لعان سره ۔ او جزاء د لو لا محذوف ده ۔ لَاُبْتُلِيْتُمْ بالفحشاء یعنی ضرور به مبتلا شوی وے په فحشاء سره ۔

مِنَ الْاِثْمِ ۚ وَالَّذِیْ تَوَلّٰی كِبْرَهٗ
دَ گناه نه ، او هغه تن چه زاوچت کړیدے لوئے بوج
مِنْهُمْ لَهٗ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ⑪ لَوْلَآ
دَ دوی نه هغهٔ لره عذاب لوئے شان والا دے . ولے نه وه

۱۱ خلاصه :- دَ دے آیت نه دویم باب تر ۲۶ پورے دے په دے کښ زجرونه دی منافقانو ته چه بد نامے لګوی په مؤمنانو باندے او آداب دی مؤمنانو ته په وخت دَ بد نامه لګیدلو په یو مؤمن باندے او اوصاف دَ منافقانو دی سره دَ تخویف اخروی نه - او ترغیبات دی مؤمنانو ته سره دَ بشارت نه -

تفسیر :- په دے آیت ۱۱ کښ زجر دے هغه منافقانو ته چه بد نامه ئے لګولے وه په عائشه رضی الله عنها باندے او په دے بد نامه لګولو کښ صرف درے دَ اهل ایمان نه شریک شویو حسان بن ثابت مسطح بن اثاثه او حمنه بنت جحش رضی الله عنهم او باقی ټول منافقان وو -

عُصْبَةٌ مِّنْكُمْ ، عُصْبَةٌ ، دَ درے نه ترلسو پورے جماعت ته وئیلے کیږی او مِنْكُمْ ئے ځکه اوفرمائیل چه منافقان هم ځان په مؤمنانو کښ شمار کوی -

لَا تَحْسَبُوْهُ ، دا تسلی ده مؤمنانو ته ځکه چه دا واقعه سبب اوګرځیدله دَ نزول دَ سورت نور دَ پاره او دا لوئے خیر دے او دا رنګ په بهتان لګیدلو سره ګناهونه معاف شی او درجات اوچت شی - په دے کښ اشاره ده چه کوم مصیبتونه چه په اولیاء الله باندے راځی په دے کښ دَ هغوی دَ پاره خیر وی -

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْاِثْمِ ، یعنی په ګناه دَ بهتان کښ چه چا څومره حصّه اخستلے ده دومره ګنهګار دے چا ابتداء کړے ده او چا یو کس ته خبره بیان کړیده او چا ډیرو کسانو ته چا په ظن باندے عمل کړے او چا یقین کړیدے -

وَالَّذِیْ تَوَلّٰی كِبْرَهٗ مِنْهُمْ ، مراد دے نه عبد الله بن اُبَیّ بن

إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَٰتُ

کله چه تاسو دا (خبر) واوریدلو چه گمان کړے وے مؤمنانو سړو او مؤمنو زنانو

بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَٰذَا إِفْكٌ

په یو بل باندے د خیر او ویلے وے چه دا دروغ

مُّبِينٌ ﴿۱۲﴾ لَّوْلَا جَاءُو عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ

ښکاره دی۔ ولے نه راوړی دوی پدے باندے څلور

شُهَدَاءَ ۚ فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَاءِ

گواهان نو کله چه دوی راؤ نه ړل گواهان

فَأُولَٰئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَاذِبُونَ ﴿۱۳﴾

نو دغه کسان په نیز د الله تعالیٰ دوی دروغژن دی۔

سلول دے چه رئیس د منافقانو وو او دهٔ د دے بهتان ابتداء کړے وه او دَ دے نشرو اشاعت به ئے هم کوؤ او دا په روایت دَ امام بخاری کښ دی او دا صحیح قول دے۔ او چا چه حسان بن ثابت رضی الله عنه ته دَ دے نسبت کړے دے هغه قول صحیح نه دے هغه قول دَ هغهٔ راوی اجتهاد دے۔

۱۲:۔ پدے کښ ادب اول ذکر دے دَ پاره دَ مؤمنانو په وخت دَ بهتان لگیدلو کښ په یو مؤمن باندے یعنی مؤمنانو لره تصدیق دَ بهتان تړونکو ته دے پکار بلکه دوی لره گمان دَ خیر پکار دے په مؤمنانو باندے ځکه چه ظاهر حال دَ مؤمن پاکدامنی او عفت دے۔

۱۳:۔ پدے آیت کښ زجر دے منافقانو ته۔ او علّت دَ ماقبل دے یعنی هر کله چه دوی څلور گواهان نشی پیش کولے نو بغیر دَ ثبوت شرعی نه ولے په مؤمنانو باندے گمان دَ بدئ کوی۔

عِندَ اللَّهِ، دَ دے نه مراد حکم دَ شرع دے یعنی په داسے امورو کښ گمان دَ انسان ته اعتبار نشته بلکه چه ثبوت شرعی ورسره نه وی نو پدهٔ باندے حکم دَ دروغژن کیدلے شی۔

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ

اوکه چرې نه وې فضل دَ الله تعالیٰ په تاسو باندې او رحمت دَ هغه

فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ لَمَسَّكُمْ فِيْ مَآ

په دنیا او آخرت کښې خامخا رسیدلې به وُو تاسو ته په وجه دَ هغه کار

اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِذْ

چه ورننوتلي تاسو په هغې کښې عذاب لوې شان والا۔ کوم وخت چه

تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ

را اخستله تاسو دا خبره دَ ربوبل نه په ژبو خپلو سره او وئیل تاسو

بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ

په خپلو خُلو هغه خبره چه نۀ وُو تاسو لره په هغې باندې هیڅ علم (دلیل)

وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ

او گمان کوؤ تاسو په دې باندې معمولي خبره او هغه په نیز دَ الله تعالیٰ

عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ وَلَوْلَآ اِذْ سَمِعْتُمُوْهُ قُلْتُمْ

لویه بده خبره ده۔ او ولې نه وه هر کله چه تاسو واؤریدله چه وئیلې وُو تاسو

۱۴: په دې کښې ترغیب او تسلي ده مؤمنانو ته او مراد دَ فضل نه زجرونه دي منافقانو ته په بهتان لګولو سره په مؤمنانو باندې۔ او مراد دَ رحمت نه ذکر دَ خائسته آدابو دې چه په دنیا او آخرت کښې فائده ورکوونکي دي یا مراد دَ فضل نه توفیق دَ توبې ورکولو دې او مراد دَ رحمت نه توبه قبلول دي دَ هغه مؤمنانو چه په بهتان کښې دَ شرکت کولو نه روستو توبه ئې اوویستله۔

۱۵: په دې کښې بیا زجر دې منافقانو ته او دا علت دَ مخکښې تیر شوي مضمون دې چه استحقاق دَ عذاب دې۔ او په دې کښې زجر دې په درې کارونو سره اول په ژبه دَ یو بل نه نقل کول بې تحقیقه،

مَا يَكُوْنُ لَنَآ اَنْ نَّتَكَلَّمَ بِهٰذَا ۖ
نه دی روا مونږ لره چه خبره اوخوځوو په دے باندے
سُبْحٰنَكَ هٰذَا بُهْتَانٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۶﴾
پاکی ده تا لره دا بهتان لوئ دے۔
يَعِظُكُمُ اللّٰهُ اَنْ تَعُوْدُوْا لِمِثْلِهٖٓ
منع کوی تاسو لره په نصیحت سره الله تعالیٰ چه بیا اوکړئ مشان دَ دے
اَبَدًا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۱۷﴾ وَيُبَيِّنُ
هیڅ کله که یئ تاسو مؤمنان یئ۔ او بیانوی
اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ
الله تعالیٰ تاسو ته احکام ، او الله تعالیٰ پوهه دے
حَكِيْمٌ ﴿۱۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحِبُّوْنَ
حکمتونو والادے۔ یقیناً هغه کسان چه خوخوی

دویم خبره کول بے دلیله ، دریم غټه ګناه معمولی خبره ګنړل اودا صفتونه دَ منافقانو دی۔
۱۶ :- په دیکښ ذکر دَ دریم ادب دے مؤمنانو ته یعنی منافقان خو په دے باندے ژبے خوځوی لیکن مؤمنانو له پکار دی چه خپلے ژبے دَ دے نه اوساتی او په دیکښ دَ اول آدب نه زیات تاکید دے په اول کښ صرف ترغیب وؤ خانسته ګمان کولو ته او په دیکښ ترغیب دے ښکاره انکار کولو دَ بهتان ته۔
سُبْحٰنَكَ ، دا هم دَ قُلْتُمْ دَ لاندے داخل دے۔
۱۷ :- په دے آیت کښ دا بل ادب دے مؤمنانو دَ پاره یعنی منع کول دَ بهتان تړلو نه همیشه۔
۱۸ :- په دے آیت کښ ترغیب دے تعمیل دَ دے آدابو ته۔ مراد دَ آیت نه آداب او علامات دَ منافقانو دی۔

أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا

دا چه خوره شي بدکاري په مؤمنانو کښ

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا

دوی لره عذاب دردناک دے په دنیا

وَالْآخِرَةِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ

او آخرت کښ ، او الله تعالیٰ پوهیږی او تاسو

لَا تَعْلَمُونَ ⑲ وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ

نه پوهیږئ ۔ او که چرے نه وے فضل دَ الله تعالیٰ په تاسو باندے

وَرَحْمَتُهُ وَأَنَّ اللَّهَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ⑳

ع ۲ ۸

او رحمت دَ هغهٔ او دا چه یقیناً الله تعالیٰ شفقت کوونکے رحم کوونکے دے۔

س۱۹۔ په یکښ ذکر دَ صفت دَ منافقانو دے او تخویف دنیوی او اخروی
دے۔ او مراد دَ اشاعت دَ فاحشه نه عام دے، بدنامی دَ یو مؤمن
خورول او دَ کفر او دَ شرک اشاعت او بدعات او رسم رواج
ته دعوت ورکول دا رنګ دَ فحاشئ او دَ بدکارئ اسباب عام کول
سینما ته ترغیب ورکول دا ټول په اشاعت دَ فاحشه کښ داخل
دی۔ او عذاب مشروط دے په شرط دَ توبے نه کولو سره۔
س۲۰۔ په دے آیت کښ ترغیب دے۔ او تخویف ته اشاره ده په حذف
دَ جزاء دَ لولا سره چه لعذبکم دے او دے آیت کښ دَ فضل
نه مراد بیان دَ علاماتو دَ منافقانو دے او مراد دَ رحمت نه حفاظت
دے دَ فاحشے او دَ اشاعت دَ هغے نه او دا دواړه خبرے دَ مؤمنانو
دَ پاره رأفت او رحمت دے ځکه چے په آخر کښ رؤف رحیم
ذکر کړو۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا

اے ایمان والو مه ځئ

خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ

قدمونو د شیطان پسے، او څوک چه روان شو په قدمونو

الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَاۗءِ

د شیطان پسے نو یقیناً هغه خودنه کوي د گنده کارونو

وَالْمُنْكَرِ ۭ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

او د ناکاره خبرو، او که چرے نه وے فضل د الله تعالٰی په تاسو باندے

وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰي مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ

او رحمت د هغه پاک به نه وے پاتے شوے د بس تاسو ستاسو نه هیڅوک

اَبَدًا ۙ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ

هیچرے او لیکن الله تعالٰی پاکی ساتی چالره چه اوغواړی،

وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۲۱﴾ وَلَا يَاْتَلِ

او الله تعالٰی هرڅه آوری او په هرڅه پوهیږی۔ او قسم دِ نه کوی

ف۲۱ :- په دے آیت کښ ذکر د ادب دے د پاره د مؤمنانو او منع د کارونو د منافقت نه ده چه هغے ته اشاره ده په خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ سره۔
فَحْشَاۗءِ ، نه مراد هغه عملونه دی چه د ټولو اهلِ عقلو په نیز باندے قبیح وی لکه دروغ ویل او بهتان تړل بدکاری کول۔
وَالْمُنْكَرِ نه مراد هغه کارونه دی چه د هغے نه شرعے منع کړے وی اگر چه نور خلق ئے بد نه گنړی۔ او دے آیت کښ د فَضْلُ نه مراد قرآن کریم دے چه منع کوونکے دے د تابعدارئ د شیطان نه۔ او د رَحْمَتُ نه مراد د دے سورت نازلول دی د پاره د عفت او د پاکدامنئ یا بعثت د نبی صلی الله علیه وسلم مراد دے او داپشان د سورة نساء ـ دے۔
مَا زَكٰي مِنْكُمْ ، مراد د دے نه بچ کیدل دی د شرک او کفر او بدعاتو

أُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ أَنْ يُؤْتُوا

غوره والی والا ستاسو نه او مال والا دَ ورکولو نه

أُولِي الْقُرْبَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ

خپلوانو نه او مسکینانو نه او هجرت کوونکو نه

فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلْيَعْفُوا وَلْيَصْفَحُوا ۗ

په لار دَ الله تعالیٰ کښ او معافي دِ کوي او مخ دِ اړوي (دَ ملامته کولو نه)،

أَلَا تُحِبُّونَ أَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ

آیا تاسو نه خوښيږي چه بخنه اوکړي الله تعالیٰ تاسو نه، او الله تعالیٰ

غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٢٢﴾ إِنَّ الَّذِينَ يَرْمُونَ

بخنه کوونکے او رحم والا دے۔ یقیناً هغه کسان چه بدنامے لګوي

الْمُحْصَنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ لُعِنُوا

په پاکو زنانو ساده ګانو ایمان والو باندے لعنت کړے شوے په دنیا کښ

او دَ اسبابو دَ تهمت او بهتان نه يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ، مراد پدے سره توفیق ورکول دي دَ تزکیے او دَ تقوٰی او اشاره ده چه انسان په تزکیه کښ الله تعالیٰ ته محتاج دے۔

۲۲:۔ پدیکښ ذکر دَ دریے آدابو دے مؤمنانو ته یعني لوے مرتبے والا مؤمن دَ پاره لوے اخلاق پکار دي۔ او پدے آیت کښ ذکر دَ عظمت شان دَ صحابه کرامو دے ځکه آیت نازل شویدے په باره دَ ابوبکر او مسطح بن اثاثه رضی الله عنهما کښ۔ مسطح دَ ابوبکر رضی الله عنه دَ خاله ځوے وو مسکین وو مهاجر وو او ابوبکر رضی الله عنه به په هغه باندے خرچ کوو۔ لیکن په بهتان دَ عائشه رضی الله عنها کښ شریک شو نو ابوبکر رضی الله عنه قسم اوکړو چه زهٔ به دهٔ ته آئنده دَ پاره هیڅ نفقه او صدقه نه ورکوم نو روستو دَ دے آیاتونو دَ نزول نه او دَ توبے دَ مسطح رضی الله عنه نه دا آیت نازل شو۔ او اشاره ده چه په

فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ

په دنيا او آخرت کښې او دوی لره عذاب

عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾ يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ أَلْسِنَتُهُمْ

لوے شان والا دے۔ په هغه ورځ چه گواهي کوي په دوی باندے ژبے د دوی

وَأَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوا

او لاسونه د دوی او خپے د دوی په هغه عملونو باندے

يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ يَوْمَئِذٍ يُوَفِّيهِمُ اللَّهُ

چه دوی ئے کوی۔ په هغه ورځ به پوره ورکړی دوی ته الله تعالیٰ

دِينَهُمُ الْحَقَّ وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ

بدله د دوی (چه دوی ئے حق لري) او يقين به اوکړي چه الله تعالیٰ

هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ ﴿٢٥﴾ الْخَبِيثَاتُ

هغه حق دے ښکاره دے (حقانيت د هغه)۔ پليتئ د پاره

يو گناه (بغير د شرک او کفر نه) سره عملونه نُه برباد کيږي د داسے شخص سره قرابت او د هغهٔ په عمل د هجرت کښې نقصان نه راځي۔ او دا آيت دليل دے چه بل چا ته (مومن) د هغهٔ جرم معاف کول سبب د مغفرت د گناهونو دے۔

۲۳، ۲۴، ۲۵:۔ په دے آياتونو کښې تخويف اخروی دے په تامه لگوونکو منافقانو ته چه هغوی دا عمل جائز گڼړی او توبه ئے نه وه کړے او دا صفت د منافقانو دے او آيت عام دے نارينو او زنانو ټولو ته شامل دے يعنې د المحصنات نه مراد نفسونه پاک لمن دی که نارينه وی او که زنانه وی او هر کله چه منافقانو په دے واقعه کښې ژبے او لاسونه او خپے استعمال کړے دی نو د هغې شهادت ئے ذکر کړو۔ او داسے شهادت په سورة يٰس ۶۵ او سورة حم سجده ۲۰ کښې ذکر شوے دے۔

اَلْحَقُّ الْمُبِيْنُ، نوم دے د نومونو د الله تعالیٰ نه، لازمي معنیٰ دا ده

لِلْخَبِيْثِيْنَ وَالْخَبِيْثُوْنَ لِلْخَبِيْثٰتِ ۚ

دَ پلیتانو دی او پلیتان دَپارهٔ دَ پلیتو دی

وَالطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَالطَّيِّبُوْنَ

او پاکې دَپاره دَ پاکانو دی او پاکان دَپاره

لِلطَّيِّبٰتِ ۚ اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ مِمَّا

دَ پاکو دی دغه کسان پاک دی دَ هغه خبرو نه

يَقُوْلُوْنَ ۭ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۲۶﴾

چه وائی (ورپسې) پلیتان دَ دوی دَپارهٔ بخنه ده او رزق عزت والا دے۔

چه ښکاره دے حقانیت دَ الله تعالیٰ په هر قسم دلیلونو سره یا متعدی معنیٰ ده چه بیا تو ؤتکے دے حق لره۔

ف ۲۶ :- په دے آیت کښ بشارت دے مؤمنانو ته روستو دَ ذکر دَ تخویف نه او اشاره ده دلیل ته په براءت دَ عائشه رضی الله عنها یعنی پاکدامنی دَ نبی صلی الله علیه وسلم دلیل دے په پاکدامنئ دَ بیبیانو دَ هغه پاندے ځکه چه الطَّيِّبٰتُ لِلطَّيِّبِيْنَ او اُولٰٓئِكَ مُبَرَّءُوْنَ کښ دلیل دے چه په بهتان وئیلو دَ خبیثانو سره دَ پاکدامنو پاکوالی ته نقصان نه رسی۔ او الْخَبِيْثٰتِ، او الطَّيِّبٰتُ زنانو او کلماتو او کارونو او عاداتو ټولو ته شامل دی۔

فائده :- مفسر قرطبی لیکلی دی چه الله تعالیٰ براءت دَ یوسف علیه السلام ښکاره کړے وو په بیان دَ یو شاهد سره) او براءت دَ مریم ئے ښکاره کړے وو په ژبه دَ ولد دَ هغې په وړوکوالی دَ هغهٔ کښ۔ لیکن براءت دَ عائشه رضی الله عنها الله تعالیٰ په خپله اوکړو په انزال دَ دے سورت سره او دا اوچته مرتبه ده۔

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا

اے ایمان والو مهٔ داخلیږئ کورونو ته

غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا وَتُسَلِّمُوْا

سوا د کورونو ستاسو نه ترهغې پورے چه ځان ورته معلوم کړئ په اجازت غوښتلو سره

عَلٰٓى اَهْلِهَا ۚ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

دَهغې په اوسيدونكو باندے، دا په غوره دی تاسو لره

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۲۷ فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا

دَدے دَپاره چه ياد اولرئ دا حكم - پس كه چرے نه موے

۲۷ خلاصه :- دَدے آيت نه تر ۳۵ پورے دريم باب دے پيدے باب كښ ذكركيږي لس آداب چه هغه بندش دے دَ اسبابو دَ فحش كارئ نه او په آخر كښ ترغيب دے۔

تفسير :- په دے آيت ۲۷ كښ اول ادب ذكركوی يعنی دَ يوبل دَ اوسيدلو ځائے ته په اجازت سره داخليدل ضروری دی بے اجازته داخليدل حرام دی او په يكښ لوے فساد دا دے چه بے اذنه (ناڅاپه) داخل شے نو كيديشی چه اوسيدونكے دَ كور تاريته يا زنانه په داسے حالت كښ وی چه عورت ئے ښكاره وی ، او دا بے حيائی ده او دَ دے وجے نه دا حكم دَ خپلے ښځے دَ اوسيدلو دَ مكان نه علاوه هر كور او ځائے دَ اوسيدلو ته شامل دے تر دے پورے چه دَ مور دَ اوسيدلو ځائے ته هم دا حكم شامل دے لكه چه داسے په حديث ابن جرير طبری وغيره كښ راغلی دی۔ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا ، مراد دَ استيناس نه اجازت طلب كول دی۔ ليكن هركله چه دَ دے اذن غوښتلو دَپاره الفاظ متعين نشته صرف مقصد تر ينه عرفی تعارف كول دی كوروالو ته ځكه لفظ دَ استيناس (چه دلالت كوی په معرفت باندے) ئے ذكر كړيدے او دَ دے دَپاره مختلف طريقے دی۔

اوله طريقه دا ده چه دَ دروازے نه په يو طرف او دريږی او آواز

فِيهَآ أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتّٰى

په هغې کښې څوک (چه اجازت ورکړي) نو مه داخلیږئ ترڅو پورې

يُؤْذَنَ لَكُمْ ۚ وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ

چه اجازت اوکړې شي تاسو ته، او که چرې اُوئيلې شي تاسو ته

ارْجِعُوا فَارْجِعُوا ۖ هُوَ أَزْكٰى لَكُمْ ۚ

واپس شئ نو واپس لاړ شئ دا ډیر کوډونکے ده د پاره ستاسو لره.

ورکړي چه زهٔ فلانے اجازت غواړم د دننه داخلیدلو او ورسره په سلام هم ملګرے کړي او دے ته سلام استیذان وئیلے شي.

دویمه طریقه دا ده چه قاصد په چا پسے اولیږي او هغه د قاصد سره راشي نو بیا اجازت غوښتلو ته حاجت نشته د قاصد سره راتلل اجازت دے.

دریمه طریقه دا ده چه دروازه په دمه سره اوټکوي او د اذن انتظار اوکړي دا درے واړه طریقې په احادیث صحیح کښې ذکر کړے شوے دي.

څلورمه طریقه په حدیث د ابن ماجه کښې ذکر ده چه استیناس دا دے چه تسبیح اُوائي یا الله اکبر یا الحمد لله یا غاړه تازه کړي په داسے طریقه چه کور والا خبر شي بیا د اذن انتظار اوکړي.

وَتُسَلِّمُوا عَلٰى أَهْلِهَا مراد د دے نه سلام کول دي په وخت د اذن طلب کولو کښې داسے دِ أُوائي السلام علیکم أَأَدْخُلُ او درے کرته په داسے سلام کوي یا مراد د دینه سلام دے پس د اذن نه کله چه داخل شي. او د ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دے چه د اذن سره سلام اونکړي نو واپس دِ کړے شي ترڅو پورے چه سلام اوکړي.

فائده :- دا استیذان دلیل غرض دے که یو کس مخکښې د اذن غوښتلو نه د چا کور ته نظر اوکړي نو کور والو ته اجازت دے چه د دهٔ سترګه په یو ډکي سره اوباسي دا په حدیث صحیح مسلم کښې راغلے دي او په ظاهر باندے حمل دے.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۸﴾ لَيْسَ

او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے پوهه دے - نشته

عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا

په تاسو باندے ګناه چه داخل شئ کورونو ته

غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ ؕ

چه اوسیدل نه کیږی په هغے کښ څۀ فائده وی ستاسو

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۲۹﴾

او الله تعالیٰ پوهه دے په هغه خیز چه ښکاره کوئ او هغه چه پټوئ تاسو -

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ يَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

اُوایه مؤمنانو ته چه کوز ساتی بعضے دَ نظرونو خپلو نه

وَيَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ ذٰلِكَ اَزْكٰى

او بچ ساتی عورتونه خپل ، دا طریقه پاک ساتونکے ده

لَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا يَصْنَعُوْنَ ﴿۳۰﴾

دوی لره ، یقینًا الله تعالیٰ خبردے په هغه کارونو چه دوی یے کوی -

ف ۲۸ :- مقصد دَ آیت دا دے چه بغیر دَ اذن کولو نه داخلیدل منع دی څوک په کورکښ موجود نه وی یا موجود وی لیکن اذن نه ورکوی چپ وی نو نه به داخلیږی - او که دَ واپس کیدلو اُوئیلے شی نو واپس کیدل ضروری دی په هغے باندے خفګان کول نه دی پکار -

ف ۲۹ :- مراد دَ دینه داسے مکانونه دی چه څوک پکښ اوسیدل نه کوی مثلًا دُکان، منډئ، دفتر او هغے ته څوک دَ خپل ضرورت دَ پاره داخلیږی نو اذن طلب کولو ته حاجت نشته دے - فِيْهَا مَتَاعٌ یعنی په هغے کښ ستاسو څه ضرورتونه وی اشاره ده چه بے ضرورته او بے حاجته داسے ځایونو ته تلل هم پکار نه دی ځکه چه دا هم سبب دَ بدنامئ جوړیږی -

ف ۳۰ :- دا دریم ادب دے مؤمنانو لره په باره دَ پابندئ کولو په سترګو باندے

وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

او وایه مؤمناتو زنانو ته چه کوز ساتی د نظرونو خپلو نه

وَيَحْفَظْنَ فُرُوْجَهُنَّ وَلَا يُبْدِيْنَ

او بچ ساتی عورتونه خپل او نه ښکاره کوی

زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ

ډول خپل مګر چه ښکاری د هغے نه (بے اختیاره مجبورًا) او اچوی دے

بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ ۖ وَلَا يُبْدِيْنَ

لوپټے خپلے په ګریوانونو خپلو باندے او نه دے ښکاره کوی

زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ اَوْ اٰبَآئِهِنَّ

ډول خپل مګر خاوندانو خپلو ته یا پلارانو خپلو ته

اوپه فروج (عورتِ خاصه) باندے۔ دَ سترګو آدب ئے مقدم ذکر کړو ځکه دا اصل سبب دے زړۀ ته دَ اثر رسولو دَپاره او دا رنګ دَ میلان دَ پیدا کیدلو دَپاره۔

مِنْ اَبْصَارِهِمْ، لفظ دَ من صله ده دَپاره دَ غض۔ ځکه چه غض کمولو ته وائی نو معنیٰ دا ده چه دَ سترګو دَ نظر نه دِ کمے اوکړی او یا دَپاره دَ تبعیض دے او غض په معنیٰ دَ کوځولو دے نو معنیٰ دا ده چه کوز او ښکته دِ ساتی بعض دَ نظرونو خپلو نه او دَ دوارو مراد دا دے چه په سترګو باندے دِ هر څیز او هر ځائے ته نه ګوری۔ بیا دلته مفعول ئے نه دے ذکر کړے لیکن شرعًا او عادتًا معلوم دے چه هغه ځایونه دَ بدن مراد دی چه دَ هغے ښکاره کول ناربنه او زنانه لره حرام وی۔ او بعضے نظر چه جائز دے هغه ناڅاپه نظر کول دی او هغه بے اختیاره دی په هغے کښ حکم دا دے چه زر په خپل نظر واپس کوی لکه چه په حدیث دَ صحیح مسلم کښ دَ جریر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت راغلے دے۔ او بعضے جائز نظر دَ ضرورت دَ علاج کولو په وخت کښ هم دے۔

أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ

یا سخرانو خپلو ته یا ځامنو خپلو ته

أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ

یا بنځو خپلو ته یا رونړو خپلو ته

أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ

یا وربرونو خپلو ته یا خوریونو خپلو ته

أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ

او زنانو خپلو (یعنی مؤمنو) ته یا هغه (وینځې) چه مالک دی پرې ښځې لاسونه د دوی

أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ

یا خدمتګاران چه نه دی شهوت والا د

الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا

نارینو ته یا هغه وړه چه نه دی خبر شوی

يَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ، حفاظت د فروجو نه مراد ساتل دی د کشف (ښکاره) کولو نه او دا رنګ بچ ساتل د بدکارئ نه پکښ په طریقه اولی سره داخل دی او د دے سره یے منځ نه دے ذکر کړے ځکه چه حفاظت د فروجو ، د ښځې او خپلے وینځې نه علاوه هر وخت لازم او ضروری دے اګرچه انسان ځان له په خلوت کښ ناست وی هم په عورت (بلاضرورت) نه ښکاره کوی د وجے د حیا د ملائیکو نه او د الله تعالی نه ، دا رنګ صحیح حدیث کښ ذکر کړے شوے دی -

ازکی یعنی پدے آدب باندے په عمل کولو سره د انسان زړه او اندامونه د بد خیالاتو او ګناهونه پاک وی او دا رنګ د بد نامئ او تهمتونو نه هم پاک شی پدیکښ اشاره ده چه پاکه معاشره پدے آدابو سره پیدا کیږی -

يَصْنَعُونَ ، صنع هغه کار ته ویلے کیږی چه عادت ګرځیدلے وی یعنی

عَلٰی عَوْرٰتِ النِّسَآءِ ۖ وَلَا يَضْرِبْنَ

په عورتونو دَ زنانو باندے او نه بدی

بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ

خپے خپلے په زور سره په زمکه باندے دَ پاره دَ دے چه معلوم شی خلقو ته هغه چه پټ دی

زِيْنَتِهِنَّ ؕ وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ جَمِيْعًا

کالو دَ دوی نه ، او توبه اوباسئ الله تعالیٰ ته ټول

اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿٣١﴾

اے مؤمنانو دَ دے دَ پاره چه کامیاب شئ۔

چا چه سترگے په ناکاره نظر کولو عادت کړے وی یا دَ عورت دَ ښکاره کولو عادت ئے نیولے وی نو هغه ته زور نه دے۔

ف۳:- په دے آیت کښ پنځه آداب زنانو مؤمنانو دَ پاره ذکر کړے دی۔
اول ادب غض دَ بصر دَ هغے، تفصیل ئے مخکښ بیان شو یعنی لکه چه نارینه منع دے پردو زنانو ته دَ نظر کولو نه دارنگ زنانه هم منع کړے شوے دی دَ نظر کولو نه پردو نارینو ته۔
دویم ادب حفاظت دَ فروجو هغه هم مخکښ ذکر کړے شو۔
دریم ادب وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ، زینت دوه قسمه دے خلقی او کسبی او بیا دوه قسمه ظاهری او باطنی۔ خلقی زینت مخ او بدن دے او کسبی جامے او کالی اچول، رنگ لګول او رانجه لګول وغیره۔
اِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا، ظَهَرَ نه مراد هغه دے چه په مجبورئ باندے ښکاره کیږی نو دا استثناء منقطع دے۔ معنیٰ دا شوه چه زنانه دے قصدًا خپل زینت نه ښکاره کوی او کوم چه مجبورًا ښکاره کیږی نو په هغے کښ گناه نشته۔ او مجبورًا ښکاره کیدونکے زینت څادر او بورقه پرونے دے ځکه چه هغے دَ پاسه نورے جامے نشی اچولے۔ او دا رنگ دَ لارے دَ لیدلو په ضرورت سره یوه سترگه ښکاره کول دی او دا رنگ گوتے دَ یو لاس چه په هغے سره په ځان باندے څادر پرونے رانیسی او یا سیلئ راشی جامه ترینه

وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ

او نکاح اوکړئ د لونډانو ستاسو نه او د نیکانو (مؤحدینو)

واړه وی دا مجبوراً ښکاره کیدل دی.

فائده :- بعضې مفسرینو او فقهاؤ د مَاظهرمنها نه مراد مخ او ورغوی اراده کړے دی او مشروط یې لګولے دے چه دا نظر هغه وخت جائز دے چه نه شهوت وی او نه احتمال د شهوت وی. او د دے د پاره یې دلیل پیش کړیدے په قول د علی او ابن عباس رضی الله عنهما سره په تفسیر د ماظهر منها کښ.

دویم دلیل یې حدیث د اسماء رضی الله عنها ذکر کړے دے او په هغے کښ نقل دی چه کله زنانه بالغه شی نو نه دی جائز چه ښکاره شی د هغے نه مګردا او اشاره یې اوکړه مخ او ورغوؤ ته یعنی مخ او ورغوی ښکاره کول جائز دی؟

جواب د اول دلیل نه دادے، ابن همام فتح القدیر ص۹۷ شرح هدایه کښ وئیلے دی چه د ماظهرمنها په تفسیر کښ د صحابه کرامو نه نور اقوال هم نقل دی چه هغه دلالت نه کوی په مدعا باندے او دلالت د قول د علی رضی الله عنه او ابن عباس رضی الله عنهما هم واضح نه دے (ځکه د هغوی نه الکحل والخاتم نقل دے) نو ظاهر داده چه مراد کحل نه ځائے د کحل دے یعنی سترګے او مراد د خاتم نه ځائے د ګوتے مراد دے یعنی ګوتے د لاس، د دے وجے نه دا دلیل ثابتوونکے د مدعا نه دے.

او د دویم دلیل جواب تفسیر ابن کثیر کښ ذکر کړے دے چه ابوداؤد او ابوحاتم وئیلے دی چه دا حدیث مرسل (منقطع) دے ځکه چه خالد بن دریک د عائشة رضی الله عنها نه اوریدل نه دی کړی.

او بل جواب ابن قدامه الحنبلی په المغنی ص۵ جلد ۹ کښ ذکر کړیدے وئیلے دی که حدیث اسماء چرے صحیح شی پس احتمال لری چه دا روایت د نزول حجاب نه وړاندے وؤ او نور احادیث مرفوعه په جواز د ښکاره کولو د مخ باندے بغیر د خطبې نه هیڅ دلالت نه کوی. تفسیر سمرقندی حنفی ص۴۳ جلد ۲ د عبدالله بن

مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ ط اِنْ يَّكُوْنُوْا

دَ مریانو اودَ وینځو ستاسو نه که دوی وی

مسعود رضی الله عنه نه روایت نقل کړیدے چه دَ دۀ نه تپوس کړے شویوُ په باره دَ الا ما ظهر منها کښ نو هغه په سر باندے څادر واچوؤ او مخ ئے پټ کړو او یوه سترګه ئے ښکاره کړه او دا رنګ په تفسیر دَ يُدْنِيْنَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيْبِهِنَّ کښ ذکر کړے شویدی رلکه په تفسیر دَ سورة احزاب کښ به انشاء الله تعالی راشی)

تنبیه :- دَ وجے دَ اختلاف دَ روایاتو نه په باره دَ مخ او ورغوؤ کښ حکم دَ ستر دَ دیکښ تخفیف دے په نسبت دَ نور بدن سره لکه څه رنګ چه صاحب هدایه په باره دَ زنګون او پټون او عورت غلیظه کښ دَ حکم فرق ذکر کړیدے دَ وجے دَ اختلاف دَ روایاتو نه۔

څلورم ادب وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلٰى جُيُوْبِهِنَّ یعنی لوپټه او پړونی په داسے طریقه سره دِ اغوندی چه سر او ګریبان پټ شی۔ او رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے چه دَ هغوی زنانو به په لوپټه باندے سینے نه پټولے بلکه شاته یا په اوګو باندے به ئے لوپټه آویزانه کړیوه۔

او خُمُرِهِنَّ جمع دَ خمار ده، پټوونکی ته وئیلے کیږی نو کومه لوپټه چه تړۀ وی او ویخته، سر، سینه ورباندے نه پټیږی نو دَ هغے استعمال حرام دے۔

فائده :- دا آیت دلیل دے چه قمیصونو کښ ګریبان په سینه باندے جوړول پکار دی دا سے مفسر قرطبی ذکر کړیدی او امام بخاری هم باب جیب القمیص عند الصدر ترجمة الباب ذکر کړیدے۔ نو په قمیصونو کښ ګریبان په اوګه باندے یا په شا باندے جوړول لکه بعضے متصوفه کوی یا زنانه کوی دا خلاف دَ مسنون طریقے نه دے۔

وَلَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ هر کله چه مخکښ استثناء مجبوری ذکر کړه نو اوس استثناء اختیاری ذکر کوی۔ او مراد دَ زینت نه اعضاء (اندامونه) دَ زینت دی یعنی سر، مخ، غوږونه، غاړه، څنګلے، لاسونه، خپے او پنډۍ ځکه چه کالی اکثر پدے اندامونو کښ استعمالیږی۔ یا زینت

فُقَرَآءَ يُغۡنِهِمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ

فقیران نو مالداری په ورکړي الله تعالیٰ د فضل خپل نه او الله تعالیٰ

وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٣٢﴾ وَلۡيَسۡتَعۡفِفِ ٱلَّذِينَ

فراخ فضل والا عالم په هر څهٔ باندې دے۔ او ځان دې پاک ساتي هغه کسان

کالو ته وئیلے شي لکه سورة طٰهٰ ۸۱ کښې او غوره داده چه سر پکښې داخل نه دے۔ او دا دولس اقسام دي چه د دوی په مینځ کښې هم تفاوت دے په حکم کښې لیکن مطلق ابداءِ زینت کښې شریک دي۔

أَوۡ نِسَآئِهِنَّ دا دلیل دے چه د کافرے او مشرکے زنانه نه ستر د زینت فرض دے۔

أَوۡ مَا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُهُنَّ د صحابه او تابعینو اختلاف دے چه په دے آیت کښې غلام د ښځې داخل دے او که نه دے داخل که نه وی داخل لکه چه دا غوره قول دے لیکن بیا هم د هغهٔ په باره کښې په حکم کښې تخفیف۔

غَيۡرِ أُوْلِي ٱلۡإِرۡبَةِ مِنَ ٱلرِّجَالِ، مراد د دے نه هغه نارینه دي چه په هغوی کښې ماده د شهوت نه وی او دا رنګ د زنانو په حسن او جمال باندے هم نه پوهیږی او خدمتګاران وی په کورونو کښې او په دیکښې هیجړاګان او خزنائی نه دی داخل۔

فائده :- د دے اقسامو نه علاوه نورکسانو په وړاندے زینت ښکاره کول حرام دی لکه ترهٔ د ترهٔ اولاد، ماما او د ماما اولاد، لیور او بعضے علماؤ د ترهٔ او ماما په باره د جواز کښې قول ذکر کړیدے۔

پنځم ادب وَلَا يَضۡرِبۡنَ بِأَرۡجُلِهِنَّ یعنی زنانه دِ په داسے طریقه قدم نه ږدی او نه رفتار کوی چه د کالو آواز ئې اوریدلے کیږی ځکه چه په دے سره حرکت د شهوت په زړونو کښې پیدا کیږی۔

۳۲ :- په دے آیت کښې ذکر د اتم ادب دے حاصل دا دے چه بے وادهٔ سړے یا زنانه مه پریږدئ او دا رنګ مریان او وینځوله هم ضرور وادونه اوکړئ ځکه چه په وادهٔ نه کولو سره معاشره کښې فحاشي بدکاری پیدا کیږی او بدنامی هم ډیریږی۔

ٱلۡأَيَٰمَىٰ، جمع د ایم ده هغه نارینه او زنانه چه د هغې جوړے نه وی یعنی

لَا يَجِدُوْنَ نِكَاحًا حَتّٰى يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ

چه نه مومي نکاح لره تر دے پورے چه مالداری په ورکړی الله تعالیٰ

مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَالَّذِيْنَ يَبْتَغُوْنَ الْكِتٰبَ

دوی ته د فضل خپل نه، او هغه کسان چه غواړی مکاتب کیدل

مِمَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوْهُمْ اِنْ

د هغه چا نه چه مالک دی پرے ښی لاسونه ستاسو نو مکاتب کړئ دوی لره که چرے

عَلِمْتُمْ فِيْهِمْ خَيْرًا ۖ ق وَّاٰتُوْهُمْ

پوهیږئ تاسو په هغوی کښ د خیر (ایمان) او ورکوئ دوی ته

مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ ؕ

د مال د الله تعالیٰ نه هغه چه درکړے دے تاسو ته،

وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ

او زور مه کوئ په جینکو خپلو باندے د بد کارئ (او د نکاح کولو)

اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوْا عَرَضَ

که چرے غواړی هغوی پاک لمنی (نکاح کول) د دے د پاره چه اولټوئ سامان

نکاح ئے نه وی یا د اول سر نه بے نکاح وی یا کونړ شوی وی خو بالغ وی۔
يُغْنِيَهُمُ اللّٰهُ۔ مراد دا دے چه کوم یو غریب سړی پدے نیت نکاح اوکړه چه عفت او پاک لمنی حاصله کړی نو الله تعالیٰ هغه لره غِنا ورکوی غِنا د مال او غِنا د زړه، دواړه ورکوی او دلالت کوی پدے باندے حدیث د ابن ماجه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی درے قسمه کسان دی چه الله تعالیٰ د هغوی سره ضرور امداد کوی۔ ۱ مجاهد فی سبیل الله ۲ نکاح کوونکے په اراده د عفت او پاک لمنئ سره ۳ مکاتب چه اراده لری د اداء د بدل کتابت۔
او دا آیت دلیل دے چه د نکاح د پاره د مال د کفائت شرط نشته۔

الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ

دَ ژوند دنيوي او چاچه زور او کړو په دوی باندے

فَاِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ اِكْرَاهِهِنَّ

نو يقيناً الله تعالیٰ روستو دَ زور کولو نه په دوی باندے

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۳۳﴾ وَلَقَدْ اَنْزَلْنَا

بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ او يقيناً نازل کړيدی مونږ

۳۳ :- ابتداء دَ دے آيت دَ مخکښ آيت سره تعلق لری، مطلب دا دے چه يو کس دَ نکاح وس نه لری دَ فقيرئ دَ وجے يا دَ نورو اسبابو په وجه نو عفت او پاکدامنی دِ نه برباد وی يعنی دَ زنا او دَ هغے دَ اسبابو نه دِ ځان بچ ساتی او حديث صحيح کښ ئے دَ هغے طريقه خودلے ده په روژه نيولو سره۔ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَاِنَّهٗ لَهٗ وِجَاءٌ ،

بيا پدے آيت کښ نهم ادب دے دَ پاره دَ بندولو دَ اسبابو دَ بدکارئ۔ حاصل دا دے چه په کومه معاشره کښ مريان او وينځے ډيرے وی نو په هغے کښ بدکاری ډيره پيدا کيږی ځکه چه هغوی پخپله وس او اختيار دَ نکاح نه لری او مولی ئے دَ نکاح خيال نه ساتی نو دينِ اسلام دَ مريانو وينځو دَ کمولو مختلف طريقے ښائی. ۱ هسے آزادول ئے ثواب ډير لری۔ ۲ په کفارو دَ ګناهونو کښ آزادول ۳ په مدبّر کولو سره ۴ په مکاتب کولو سره۔ هر کله چه انسان حرصناک دے دَ عمل په عوض کښ مال غواړی دَ دے وجے نه پدے آيت کښ دَ کتابت په طريقه دَ آزادولو امر ورکوی چه دا يو ادنیٰ طريقه ده دَ آزادولو۔

کتابت ديته وئيلے کيږی چه دَ مريی يا وينځے په طلب يا بغير دَ طلب دَ هغوی نه مولیٰ ورته اُوائی چه دومره عوض روپئ را وړه په قسطونو سره نو ته به آزاد ئے نو هر کله چه هغه قسطونه پوره ادا کړی نو آزاد به شی۔

پدے کښ دَ معاهدے او دَ قسطونو ليکل پکار دی نو ځکه ورته کتابت وئيلے کيږی۔

إِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ
تاسو ته آيتونه وضاحت كوونكي او نمونه د

خَيْرًا، دَ دينه مراد ايمان دے او ورسره قدرت دَ هغهٔ په كسب دَ مال پانديے دے او صلاحيت او تقوىٰ۔
وَاٰتُوْهُمْ. په دے كښ عام مسلمانان مخاطب دى چه هغوى دَ دۀ سره په صدقه يا په زكوٰة سره امداد اوكړى او مولا هم په دے خطاب كښ داخل دے چه دَ هغه سره دے مالى امداد اوكړى۔
وَلَا تُكْرِهُوْا. دا السم ادب دے يعنى لونړه خوينده دَ نكاح نه منع كول يا خپلے وينځے په زنا باندے دَ مال دَ كسب كولو دَ پاره مجبوره كول لوے سبب دَ بدكارئ دے دَ دے نه ځان بچ كول فرض دى۔
په آيت كښ دوه تفسيره دى۔ اول دا چه فتيات نه مراد وينځے دى او بغاء نه مراد زنا ده تحصنا نه مراد ځان دَ بدكارئ نه بچ كول دى۔
عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا. نه مراد اجرت دَ زنا دے يعنى زور مه كوئ په وينځو خپلو دَ زنا كولو، دَ دے دَ پاره چه په دے ذريعه سره مال اوګټئ هر كله چه هغوى پاكدامنى غواړى۔ په دے معنىٰ كښ اشكال دا دے اِنْ اَرَدْنَ تَحَصُّنًا شرط دے نو دَ شرط نه معلوميږى چه كه پاكدامنى نه غواړى نو بيا په هغوى اكراه دَ زنا كولو جائزه ده؟
جواب اول دا دے اِنْ په معنىٰ دَ اِذْ دے۔ دويم جواب دا دے چه اكراه هله راځى چه هغوى تحصن غواړى كله چه دا وينځے په زنا رضا وى نو بيا خو معنىٰ دَ اكراه پكښ نه راځى۔
دويم تفسير دا دے چه فتيات نه مراد لونړه خوينده دى او بغاء نه مراد نكاح نه كول دى او تحصنا نه مراد نكاح كول دى او عرض الحيٰوة الدنيا نه مراد مال اخستل دى په عوض دَ نكاح كښ دَ مهر په نوم سره يا دَ رواج په طريقه سره يعنى كله چه مالدار سړے دَ دۀ لور خور نه غواړى او دۀ لره ډير مال نه وركوى نو دے دغه لور خور بل چاله په نكاح نه وركوى او دا سبب اوګرځى دَ هغے دَ ګناهونو كولو دَ پاره۔

الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً

هغه کسانو نه چه تیر شوی دی ستاسو نه مخکښ او وعظ دپاره

لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿۳۴﴾ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ

دَ متقیانو دے. الله تعالیٰ نور دَ آسمانونو او دَ زمکے دے،

مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ۭ

حال دَ نور دَ توحید دَ هغه په زړه دَ مؤمن مبلغ کښ) پشان دَ طاقچے دے چه په هغے کښ چراغ وی

اَلْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ ۭ اَلزُّجَاجَةُ

او دا چراغ په شیشه کښ وی ، دا شیشه

كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ

گویا که دا ستورے دے پرقیدونکے بله ولے شی (دا چراغ دَ تیلو) دَ اونے

مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ ۙ

برکت والا نه چه خونه دے نه ده نمر ته مخامخ، او نه خالص په سوری بانده ے

يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۭ

نزدے دی تیل دَ هغے چه رنړا اوکړی اگرچه نه دے لګیدلے دَ هغے سره اور

۳۴: په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن کریم ته عمومًا او دے سورت ته خصوصًا دپاره دَ عمل کولو یعنی احکام واضح او ښکاره دی او دَ مخکنو قومونو واقعات هم دَ عبرت دپاره دی او دَ وعظ او نصیحت خبرے پکښ هم شته او په دے بانده ے په عمل کولو سره تقوی حاصلیږی۔

بینات اکثر استعمالیږی په احکام دَ عقیده کښ او مبینات په اعمالو کښ. مثلًا په یکښ اشاره ده عذابونو دَ مخالفینو ته او دا رنګ اشاره ده چه دا سے احکام دَ عفت په تیر شوے ملتونو دَ انبیاء علیهم السلام کښ هم وو۔

موعظة کښ اشاره ده بشارتونو دَ متقیانو ته۔

نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ ؕ يَهْدِى اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ
رنړا ده د پاسه د بلې رنړا ، هدايت ورکوي الله تعالىٰ د دې نور خپل ته

مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ
هغه چا ته چه او غواړي ، او بيانوي الله تعالىٰ مثالونه

لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۳۵﴾
خلقو ته ، او الله تعالىٰ په هر څيز باندې پوهه دے.

۳۵ : خلاصه :- د دې آيت نه ترڅو پورې خلورم باب دے په دې کښې دعوىٰ د توحيد او مثال د مؤحد دے چه دعوت ورکوي توحيد ته سره د اوصاف د اهل نور نه او بشارت د هغوي ، بيا دوه مثالونه د ظلماتو والو چه کافران مشرکان دي ۔ بيا پنځه عقلي دليلونه او په آخر کښې ترغيب ۔ نوم د دې آيت (آية النور) دے۔

ربط د مخکښې مضمون سره دا دے هرکله چه دفع اوشوه د ظلماتو چه ناکاره اعمال او اخلاق دي نو اوس ترغيب ورکوي نور ته۔ دا رنګ هرکله چه د اخلاقو د خبيثين نه منع اوکړه نو اوس حال د طيبين ذکر کوي۔

تشريح د الفاظو د دې آيت دا ده ۔ اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ نور اسم د الله تعالىٰ دے د اسماء حسنىٰ د هغهٔ نه بغير د تشبيه او تمثيل د مخلوق سره ۔ او دلالت کوي چه د آسمانونو او زمکو او ما فيهما پيدا کوونکے او د هغې تدبير او نظام چلوونکے او هدايت کوونکے يو الله تعالىٰ دے په دې معنىٰ کښې د هغهٔ شريک نشته نو دا دعوىٰ د توحيد ده چه د هغې په مخالفت کښې منافقانو په توحيد والو باندې بد نامئ لګولے دي او اوس هم لګوي ، دغه نور ختمول د دوي مقصد دے ليکن په دې مقصد کښې چرې نه کاميابيږي روستو مثال دلالت کوي چه دې نور مقابله څوک نشي کولے۔

سه چراغے راکه ایزد بر فروزد هر آنکس تف زند ریشش بسوزد

مَثَلُ نُوْرِهٖ ، دا نور غير دے د اول نور نه ځکه چه دلته په اضافت سره

فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ

پہ کورونو کښې چہ حکم کړیدے اللہ تعالی چہ عزت اوکړے شی دَ هغے

ذکر کړیدے او مضاف غیروی دَ مضاف الیہ نہ۔ پس مراد دَ دے نہ هدایت دَ توحید او دَ ایمان دے دَ اللہ تعالی دَ طرف نہ پہ زړه دَ مؤحد کښې بیا دغه مؤحد چہ توحید او ایمان تہ دعوت ورکوی نو دا نور پہ دنیا کښې مشهور شی څوک یې مقابلہ نشی کولے۔

كَاَنَّهَا، دا صفت دَ الزجاجہ دَ دویم صفت دے۔ يُوْقَدُ، دا جملہ حال دے المصباح نہ مِنْ شَجَرَةٍ مضاف پټ دے یعنی مِنْ زَيْتِ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ، دَ دے بعضے برکات پہ سورة مؤمنون سلا کښې ذکر شوے دی دَ مصباح دَ پاره مشکوٰة دَ دے وجې نہ ذکر کړو چہ پہ هغې کښې راغونډه شی نو چمک یې ډیروی او زجاجہ یې دَ دے وجې نہ ذکر کړه چہ پہ غیر دَ زجاجې نہ پہ هوا کانو او پوکو ورکولو سره هغه مصباح پرکیږی دا رنګ پہ زجاجہ سره دَ مصباح چمک او رڼا زیاتہ او لرے پورے بښکاره کیږی۔

لَا شَرْقِيَّةٍ وَّ لَا غَرْبِيَّةٍ، یعنی خالص پہ مشرق کښې نہ وی چہ همیشہ پہ نمر کښې وی او خالص پہ مغرب کښې نہ وی چہ همیشہ پہ سوری کښې وی بلکہ پہ درمیانہ زمکہ کښې وی۔ یا دا چہ قریب وی مشرق تہ نو نمر تریښه زر واوړی او چہ قریب وی مغرب تہ نو سورے تریښه زر راغونډیږی بلکہ درمیانہ ځائے کښې ده نو تیل یې صاف وی۔

تشریح دَ مثال:۔ سینہ دَ مؤمن مشابہ ده دَ مشکوٰة سره او زړه دَ مؤمن مشابہ دے دَ زجاجہ سره۔ پہ شیشہ کښې درے صفات دی۔ ۱ نہ ډیره سختہ ده پشان دَ کټې او نہ ډیره نرمہ ده پشان دَ خاورے یا خټې ۲ صفا والے ۳ شفافت چہ پورے راپورے تریښه څیزونہ ښکاریږی۔ دا رنګ زړه دَ مؤمن نرم دے دَ مؤمنانو سره سخت دے پہ کافرانو باندے (اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ، اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ) او زړه دَ مؤمن صفا او پاک دے دَ شکونو او شبهاتو نہ او دَ شفافت دَ وجې نہ عملونہ او حکمتونہ پہ زړه دَ

وَيُذْكَرَ فِيْهَا اسْمُهٗ ۙ يُسَبِّحُ لَهٗ

او یاد کړے شی په هغے کښ نوم د الله تعالیٰ تسبیح وائی هغه لره

مؤمن کښ تجلّی (روښانه) کیږی۔ او ایمان او عقیده د مؤمن مشابه ده د مصباح سره چه سبب د رنړا دے۔

كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ، یعنی څنګه چه شیشه کښ دا رنړا پشان د ستوری چمکداره ده دا رنګ ایمان په زړه د مؤمن کښ سبب د رسیدلو دے مقصد ته په تیره کښ۔

يُّوْقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ زَيْتُوْنَةٍ، څنګه چه چراغ د زیتون (رخونه) د تیلو نه بلیږی دا رنګ ایمان د مؤمن حاصل شویوی د علومو د قرآن او د حدیث نه۔ او کوم ایمان چه تقلیدی وی نو په هغے کښ شکونه شبهات راځی دوام یې نه وی او کوم ایمان چه د قرآن او سنت نه ماخوذ وی نو هغه د شک او شبهے نه پاک وی او دائم وی۔ او څنګه چه شجره (راونه) د زیتون د درمیانه زمکے وی نو دا رنګ نزول د قرآن او سنت هم په حجاز مقدس کښ دے چه نه مشرقی ملک دے او نه مغربی ملک دے۔

يَّكَادُ زَيْتُهَا يُضِيْٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ، څنګه چه تیل د دغه اولے د زیتون بغیر د اور لګیدلو نه چمک کوی دا رنګ علمونه د قرآن او سنت سره که څوک وړیا ندے ایمان لری او که نه لری واضح او صفا دی۔

نُوْرٌ عَلٰى نُوْرٍ، څنګه چه د تیلو د چمک سره د مصباح رنړا جمع شوه نو دا رنګ د قرآن او سنت سره چه د عقل د دلیلونو تائید چه یوځائے شوی وی نو ایمان پوره او کامل دے۔

وجه د تشبیه دا ده څنګه چه دغه نور موصوف دے په دے صفتونو او حالاتو سره چه غالب دے په ټولو تیارو باندے او د لرے نه ښکاری او چمک کوی او چه په زجاجه کښ بند دے نو مړ کول یې هم ګران دی۔ نو دا رنګ مؤحد چه د توحید دعوت یې د قرآن او سنت په رنړا کښ شروع کړیدے مشهور وی په هر ملک کښ او مؤمنان ورسره محبت کوی۔

فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ﴿۳۶﴾ رِجَالٌ ۙ

پہ دے کورونو کښې صباؤ او بیگاؤ ۔ سړی

سَيَجْعَلُ لَهُ الرَّحْمٰنُ وُدًّا ، او خلق دَ رنړا دَ دین حاصلولو دَ پاره دَ دهٔ
خواته راځي او په ټولو مخالفینو دَ دین باندے په حجت او په رعب
سره غالب وي۔ سنلقي في قلوب الذين كفروا الرعب ليظهره على
الدين كله ۔ او مخالفین دَ دهٔ دَ مقابلے نه عاجزوي دَ دهٔ رنړا نشي ختمولے
يريدون ليطفئوا نور الله بافواههم الآية ، او دَ مصباح نه رنړا
اخستلے کیږي نو دا رنګ دین دار خلق دَ هغه رنړا ځان دَ پاره رنړا
(دَ عملونو) حاصله کړي۔
يَهْدِي اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ، دا سے هدایت او نور الله تعالیٰ خاص بندګانو
ته ورکوي۔
ملا:۔ دا آیت تعلق لري دَ تیرشوي آیت سره۔ دَ مثال سره او دَ ممثل
له سره۔ تعلق دَ مثال سره دا دے چه دغه مشکوٰة چه په هغے کښې
زجاجه ده او زجاجه کښې مصباح دے او دا وي په مساجدو کښې او په دے
کښې ترغیب دے چه په مساجدو کښې رنړا کول سبب دَ اجرو ثواب دے۔
او تعلق دَ ممثل له سره دا سے دے چه دعوت دَ توحید او ایمان وي
په مسجدونو او مرکزونو دَ توحید او مدارسو دَ دین کښې او مواضعو
دَ دعوت او تبلیغ کښې۔
فائده:۔ په دے آیت کښې دَ مساجدو او دَ مرکزونو دَ دین آداب ئے
ذکر کړے دي۔ اول ادب ، اَنْ تُرْفَعَ مراد دَ دینه تعظیم دَ شان دَ مسجد
او احترام دَ هغے دے په هغه طریقو سره چه په احادیثو نبویه کښې ذکر
کړے شوي دي بعضے دا دي ، صفائي کول ، خوشبویه کول ، دَ اوچتوالی
دَ آوازونو نه بچ ساتل ۔ دَ ورک شي دَ پاره آواز نه کول دَ مړي په
پاره کښې اعلان نه کول دَ تجارت او صنعت کولو نه محفوظ ساتل
په داخلیدو کښې ښي خپه مخکښې کول او ذکر مسنون کول او راوتلو کښې کسه خپه
مخکښې او ذکر مسنون کول او دغسے دَ نورو آدابو لحاظ ضروري دے

وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهٗ ، پدیکښې قرآن لوستل او درس دَ حدیث او دَ علومو

لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن

چه نه غافل کوي دوي لره سوداګري او نه خرڅول دَ

ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَوٰةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَوٰةِ ۙ

یاداشت دَ الله تعالیٰ نه او پابندي کولو دَ مونځ نه او دَ ورکولو دَ زکوٰة نه،

يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾

ویره کوي دَ هغه ورځ نه چه کړوړېږه شي په هغې کښې زړونه او سترګې۔

دینیو کول او دعوت او تبلیغ کول او ذکر په شرعي طریقه کول ټول داخل دي او دا جمله ئې دَ ترفع نه روستو ځکه ذکر کړله چه اصل تعظیم دَ مساجدو په ذکر دَ اسم دَ الله تعالیٰ سره دے۔

يُسَبِّحُ لَهُ، تیر شوے آدب په مسجد پورے خاص وُو او تسبیح عام عمل دَ مؤحد او دَ مؤمن دے چه هغه په اصل کښې آبادي دَ مسجد ده او تسبیح نه مراد مونځونه کول او دَ الله تعالیٰ دَ توحید کلمات په ژبه لوستل او هغې ته دعوت ورکول دي۔

۳۷ ۔ په دے آیت کښې دَ اصحاب نُور (دعوت کوونکي نور ته) شپږ صفات ذکر کړے دي۔ ع۱ رِجَالٌ، مراد دَ دے نه کمالِ رجولیت دے یعني بهادران دي، او تخصیص دَ رجال ځکه شوے دے چه په مساجدو کښې مونځ او تسبیح کول کمال دَ پاره دَ نارینه دے او دَ زنانه مونځ په خپل کور کښې بلکه دننه په کمره کښې پوره اجر و ثواب لري۔ ع۲ لَا تُلْهِيهِمْ، یعني حلال کسب دنیوي کوي او هر کله چه بهتر کسب تجارت دے نو دَ دے وجے نه تخصیص ئې اوکړو لیکن په کسب سره دَ الله تعالیٰ دَ دین نه غافل کیږي نه عمل کوي په سورة منافقون ۹ پاند دے۔ ع۳ عَن ذِكْرِ اللَّهِ، یعني الله تعالیٰ یادوي په طاعت کولو سره۔ ع۴ وَإِقَامِ الصَّلَوٰةِ، یعني دَ مونځ پابندي کوي۔ ع۵ وَإِيتَاءِ الزَّكَوٰةِ، یعني زکوٰة ورکوونکي وي۔ ع۶ يَخَافُونَ، دَ قیامت دَ حساب و کتاب وغیره نه ویره کوي۔ او دَ قیامت دا سے هیبت په حٰمٓ مؤمن ۱۸ کښې او سورة ابراهیم ۴۲ کښې هم ذکر دے۔

لِيَجْزِيَهُمُ اللّٰهُ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا

د پاره د دے چه بدله ورکړی دوی لره الله تعالیٰ خائسته بدله د عملونو د دوی

وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ يَرْزُقُ

او زیاتی ورکړی دوی لره د فضل خپل نه، او الله تعالیٰ روزی ورکوی

مَنْ يَّشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ

چا لره چه او غواړی بے حسابه۔ او هغه کسان

كَفَرُوْٓا اَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيْعَةٍ

چه کفر ئے کړے وی عملونه د دوی پشان د پرکیدونکی شګے دی په میدان کښ

يَّحْسَبُهُ الظَّمْاٰنُ مَآءً ؕ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ

چه ګمان کوی په هغے باندے تږے سړے د اوبو، تر هغے پورے چه هر کله راشی هغے ته

لَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا وَّوَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ

او نه مومی هغے لره هیڅ څیز او مومی الله تعالیٰ لره د هغے په خوا کښ

فَوَفّٰىهُ حِسَابَهٗ ؕ وَاللّٰهُ سَرِيْعُ الْحِسَابِ ﴿۳۹﴾

نو پوره به کړی ده ته حساب د ده، او الله تعالیٰ زر حساب کوونکے دے۔

ف ۳۸:۔ په دے آیت کښ بشارت دے۔ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا، دلته احسن مقابل د حسن نه دے بلکه هر عمل چه په اخلاص او اتباع سنت سره وی نو هغه احسن دے۔ وَيَزِيْدَهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ، مراد د دینه زیادت د جزاء د نیک عمل دے، د لس چند و نه زیات چه د هغے انداز معلوم نه دے یا دا چه د اعمالو د عوض نه علاوه زیاتی هم ورکوی۔

وَاللّٰهُ يَرْزُقُ، د دینه مراد رزق د جنت دے چه د هغے حساب نشته او انداز ئے هم نشته۔

ف ۳۹:۔ روستو د مثال د اصحاب نور نه مثالونه د اصحاب ظلمات ذکر کوی۔ اول مثال د اعمال صالحه (په اعتبار د ظاهر سره) او اعمال د

أَوْ كَظُلُمٰتٍ فِيْ بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَّغْشٰهُ

یا مثال د دې پشان د پیروتیرو دے په دریاب ډوبکی کښ چه پټ کړے وی هغهٔ لره

مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ مَوْجٌ مِّنْ فَوْقِهٖ

څپه	د پاسه	تریته	بله څپه وی	د پاسه تریته

خیر د مشرک دے لکه مونځونه صدقات روژے یا احسانات کول د مخلوق سره لیکن ورسره ئے شرک هم کړے دے ۔ او دویم مثال د بدو اعمالو او ظلمونه کول د مشرک او کافر دے ۔ یا دا چه اول مثال د هغه کافرانو مشرکانو دے چه دعوت ورکوی شرک او کفر ته یعنی مقتدا د کافرانو دی او دویم مثال د مشرکانو جاهلانو دے چه تقلیدی شرکی کوی ۔ دا دویه توجیه تفسیر ابن کثیر ذکر کړے ده ۔

تشریح :۔ د مثال اول دا ده كَسَرَابٍ ، سراب دیته وائی چه په غرمه د موسم د اوړی کښ صحراء او میدان ته انسان نظر کوی نو د لرے نه هغهٔ ته اوبه ښکاریږی لیکن هغه اوبه نه وی ۔ دا رنګ ریګستان ته چه په غرمو کښ نظر کوی نو د شګو د چمک د وجے نه اوبه ښکاریږی هغے ته عرف کښ شګے کل وائی یعنی سراب نوم د معدوم خیز دے ۔ بِقِيْعَةٍ ، صاف میدانونو ته وائی ۔ حَتّٰٓى اِذَا جَآءَهٗ لَمْ يَجِدْهُ ، دا ضمیرونه راجع دی سراب ته یا دا ضمیرونه عمل د کافر ته راجع دی یعنی عمل به ئے برباد وی نو هیڅ به نه مومی ۔

وَ وَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ ، بناء په اوله توجیه باندے په کلام کښ تقدیر دے یعنی رلَمْ يَجِدْهُ شَيْئًا فَكَذٰلِكَ الْكَافِرُ لَا يَجِدُ مِنْ جَزَاءِ عَمَلِهٖ شَيْئًا بَلْ وَجَدَ اللّٰهَ عِنْدَهٗ) او بناء په دویم توجیه باندے تقدیر ته حاجت نشته او عِنْدَهٗ ضمیر عمل ته راجع دے او مراد دا دے چه د الله تعالیٰ سره به مخامخ شی په وخت د جزاء د عمل د ده کښ ۔

تطبیق د مثال دا دے څنګه چه دغه ګمان کوونکے د اوبو چه تږے دے په سراب پسے منډے اووهی او محنت اوکړی لیکن هغه محنت ئے بے فائدے شی دا رنګ کافر مشرک د نیکو عملونو کوشش کړے دے او ګمان ئے دا دے چه پدے باندے به ثواب او جنت ملاویږی لیکن د

سَحَابٌ ۭ ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ۭ

وريځ وي . تيارې دي بعضې د پاسه د بعضو نه ،

اِذَآ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ۭ

هر كله چه را اوباسي دے لاس خپل نزدے نه ده چه هغې لره اوويني

وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ

او هغه څوک چه ورنکړي الله تعالىٰ هغه ته نور نو نشته هغه لره

مِنْ نُّوْرٍ ۝۴۰ اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ ع ۵ ۱۱

هيڅ نور - آيا ته ګورے نه چه يقيناً الله تعالىٰ تسبيح وائي هغه لره

جنت نه په سبب د شرک سره محروم شي او محنت ئې برباد شي. دا رنګ مقتدا د کفر او شرک چه په دعوت د کفر او شرک سره اقتدار او عزت د دنيا ئې حاصل کړے دے د دهٔ خيال دا دے چه په آخرت کښ به هم ما لره عزت حاصل شي ليکن په ورځ د حساب دا ګمان به ئې غلط ثابت شي -

نکته :- دا مثال د دويم قسم اصحاب ظلمات دے چه جاهلان مقلدين دي يا مثال دے د بدو اعمالو د مشرکانو - تطبيق د مثال دا سے دے لکه چه يو کس په سمندر د ننګى کښ وي دا يو ظلمت دے او دے راګير کړے وي يو موج دا دويم ظلمت دے د پاسه نه بل موج وي دا دريم ظلمت دے د پاسه پرے وريځ وي دا څلورم ظلمت دے پدا سے ظلماتو کښ دے د ځان نه هم خبر نه وي خپل لاس هم نشي ليدلے - دا رنګ دا کافر په ظلمت د جهل کښ دے بيا په جهل باندے هم نه پوهيږي دا بل ظلمت دے بيا دے په ظلمت د تقليد کښ دے او د دهٔ امام پيشوا هم جاهل مشرک او مبتدع وي دا بل ظلمت دے ، دے د ځان د پاره هيڅ لار د نجات نشي موندلے ځکه چه الله تعالىٰ دهٔ ته نور نه ورکوي نو بل څوک به ئې څه ورکړي -

دويمه طريقه د مثال چه يو ظلمت د شرک دے بل ظلمت د انکار جهلى

مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَالطَّیۡرُ

هغه څوک چه په آسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی او مارغان

صٰٓفّٰتٍؕ کُلٌّ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَہٗ وَتَسۡبِیۡحَہٗؕ

غوړوونکے دوزرو دی، هر یو به پیژنی الله تعالیٰ مونځ دهغهٔ او تسبیح ویل دهغهٔ

وَاللّٰہُ عَلِیۡمٌۢ بِمَا یَفۡعَلُوۡنَ ﴿۴۱﴾ وَلِلّٰہِ مُلۡکُ

او الله تعالیٰ بوهه دے په هغه کارونو چه دوی ئے کوی۔ اوخاص الله تعالیٰ لره دے باداشاهی

یا عنادی دے دریم ظلمت دَ فسق وفجور دَ اعمالو او اخلاقو دے خاورم ظلمت په خلقو باندے دَ ظلمونو کولو دے او بیا هم دهٔ ته خپل گناهونه محسوس کیږی نه۔ دَ دے وجے نه نُور دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه نهٔ ورکیږی۔ لُجّیٌّ، کښ اشاره ده چه دَ لاندے طرف نه دَ ظلمتونو انتها نه ده معلوم۔ مِنۡ فَوۡقِہٖ سَحَابٌ، په دیکښ اشاره ده چه نمر، سپوږمۍ دَ ستورو رڼا هم دَ دهٔ دَ سترگو ته په ورځو سره پنده ده۔ اِذَآ اَخۡرَجَ یَدَہٗ، انسان ته خپل لاس دَ نظرکولو دَ پاره ډیر نزدے وی لیکن هغه هم نشی لیدلے تو یل هیڅ څیز لیدلے نشی۔

ملك۔ دَ نُور دَ حاصلولو او ظلماتو نه دَ بچ کیدلو دَ پاره عقلی دلیلونه په توحید باندے ذکر کوی، دا اول دلیل دے۔ صَافَاتٍ، پدے حال کښ مارغان ښکاریږی انسانانو ته ځکه ئے خاص ذکر کړو یا پدے اسے وخت کښ مارغان ډیره تسبیح وائی۔ کُلٌّ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَہٗ وَتَسۡبِیۡحَہٗ، صلات متعلق دے دَ ملائکو او جناتو او انسانانو سره او تسبیح متعلق دے په مارغانو پورے یا تسبیح بیان دے دَ صلات او قَدۡ عَلِمَ کښ ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته یعنی الله تعالیٰ دَ هر چا په صلات او تسبیح باندے عالم دے ځکه وروستو عموم دَ علم دَ الله تعالیٰ ئے ذکر کړو دا توجیه غوره ده یا ضمیر دَ عَلِمَ راجع دے دغه مخلوق ته یعنی هر یو دَ ملائکو او جناتو او انسانانو او مارغانو نه دَ صلاة او دَ تسبیح پوهه لری په هغه طریقه چه الله تعالیٰ ورته خودلے ده۔

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ﴿۴۲﴾

دَ آسمانونو او دَ زمکے او خاص اللہ تعالیٰ ته دی ورګرځیدل ۔

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا ثُمَّ

آیا ته نه ګورے چه یقینًا اللہ تعالیٰ راشړی وریځے بیا

يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا

جوړخ راولی په مینځ دَ ټکړو دَ هغے کښ بیا اوګرځوی هغهٔ لاندے باندے (رغته)

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ

نو وینے ته غټ باران چه راوځی دَ مینځ دَ هغے نه

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا

او راوروی اللہ تعالیٰ دَ آسمان دَ طرف نه دَ (وریځو نه) چه پشان دَ غرونو دی په هغے کښ

مِنْ بَرَدٍ فَيُصِيْبُ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ

ځینے دَ ګلئ نه نو رسوی دے لره هغه ځاته چه اوغواړی

وَيَصْرِفُهٗ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ۖ يَكَادُ سَنَا

او اړوی دَ هغه ځا نه چه اوغواړی ، نزدے وی پړق

بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ﴿۴۳﴾ يُقَلِّبُ اللّٰهُ

دَ بریښنا دَ هغهٔ چه اوتختوی نظرونو لره ۔ بدلوی رابدلوی اللہ تعالیٰ

۴۲:۔ دا دویم دلیل عقلی دے او په اسم دَ اللہ تعالیٰ باندے دوه کرته تصریح دَپاره دَ تاکید ده ۔

۴۳:۔ دا دریم عقلی دلیل دے په ذکر دَ احوالو متوسطو سره پدیکښ وریځے جوړول او دَ هغے نه باران راورول او ګلئ راورول او ځاته رسول او دَ ځا نه اړول او تیزی دَ بریښنا دَ بجلئ ئے ذکر کړیده ۔ يُزْجِيْ، دَ زمکے او دَ خوا اوښا او اطرافو نه اجزاء راپورته کولو ته ازجاء وائی ۔ جِبَالٍ، دا استعاره ده ذکر دَ مشبه به او مراد تری نه مشبّه ده یعنی

اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً

شپه او ورځ لره ، یقینًا په دے نظام کښ خامخا عبرت دے

لِّأُولِي الْأَبْصَارِ ﴿٤٤﴾ وَاللَّهُ خَلَقَ كُلَّ

عقلونو والو لره . او الله تعالیٰ پیدا کړے دی هر

دَابَّةٍ مِّن مَّاءٍ ۖ فَمِنْهُم مَّن يَمْشِي

ژندی سر دَ اوبو نه (نطفه) نو بعضے هغه دی چه ګرځی

عَلَىٰ بَطْنِهِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ

په خیټه خپله باندے او بعضے هغه دی چه ګرځی په

رِجْلَيْنِ وَمِنْهُم مَّن يَمْشِي عَلَىٰ

دوه خپو باندے او بعضے هغه دی چه ګرځی په

أَرْبَعٍ ۚ يَخْلُقُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّ اللَّهَ

څلورو (خپو) باندے پیدا کوی الله تعالیٰ هغه څه چه اوغواړی ، یقینًا الله تعالیٰ

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٤٥﴾ لَّقَدْ أَنزَلْنَا

په هر څیز باندے قدرت لری . یقینًا نازل کړیدی مونږه

ورځے چه پښان دَ غرونو غټے وی - او په دے آیت کښ بیان دَ ملک او دَ تصرف دَ الله تعالیٰ دے په باړانونو وغیره پیدا کولو سره -

۴۴ :- دا څلورم دلیل دے په ذکر نورو احوالو متوسطو سره په یکښ ذکر دَ ملک او تصرف دَ الله تعالیٰ دے په زمانه او زمانیانو کښ -

۴۵ :- دا پنځم دلیل عقلی دے په ذکر دَ احوالو سفلیو سره یعنی احوال دَ ځمکے والو سره - په اعتبار دَ ګرځیدلو سره په ځمکه باندے . درے قسمه دی په خیټه باندے ګرځی - لکه مار وغیره - په دوو خپو باندے ګرځی لکه انسان ، مارغان - په څلورو خپو باندے ګرځی لکه عام څناور -

يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ، کښ زیاتو خپو ته اشاره ده لکه زنزه رهزار پائے ورته

ایٰتٍ مُّبَیِّنٰتٍ ؕ وَ اللّٰہُ یَہۡدِیۡ مَنۡ یَّشَآءُ
آیاتونه ښکاره مضمون والا، او الله تعالیٰ رسوی چاله چه اوغواړی
اِلٰی صِرَاطٍ مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۴۶﴾ وَ یَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا
لارې نیغې ته . او وائی دوی (منافقان) چه ایمان راوړے مونږ
بِاللّٰہِ وَ بِالرَّسُوۡلِ وَ اَطَعۡنَا ثُمَّ یَتَوَلّٰی
په الله تعالیٰ او په رسول باندے او تابعداری کوو مونږ بیا مخ اړوی
فَرِیۡقٌ مِّنۡہُمۡ مِّنۡۢ بَعۡدِ ذٰلِکَ ؕ وَ مَاۤ
یوه ډله د دوی نه روستو د دینه ، او نه دی
اُولٰٓئِکَ بِالۡمُؤۡمِنِیۡنَ ﴿۴۷﴾ وَ اِذَا دُعُوۡۤا
دغه کسان مؤمنان . او کوم وخت چه اوبللے شی دوی

وائی) عنکبوت وغیره لیکن معلومه دا ده چه دوی هم په څلورو ځپو باندے گرځی نو ځکه دے وجے له ئے دا مستقل قسم شمار کړے نه دے.
۴۶ :- دا ترغیب دے قرآن ته او امتثال د دے احکامو ته - او هر کله تیر شوے آیاتونو کښ د حقیقے د توحید ذکر او شو ځکه د دے اختتام ئے په ذکر د صراط مستقیم سره او کړو.
۴۷ :- خلاصه :- د دے آیت نه پنځم باب تر آخر د سورت پورے دے په دیکښ مقابله ده د صفاتو د منافقانو او د صفاتو د مؤمنانو او زجرونه منافقینو ته او بشارتونه اخروی او دنیویه مؤمنانو ته بیا درے آداب دی د پاره د دفع د حرج د مؤمنانو نه - بیا آخر کښ مقابله ده د صفتونو د مؤمنانو او منافقانو او زجر او تخویف دے منافقو ته او اختتام د سورت په مسئله د توحید سره دے.
تفسیر :- ۴۷ ، ۴۸ ، ۴۹ ، ۵۰ :- د نور او د توحید ذکر کولو نه روستو هغه منافقانو ته زجرونه ورکوی چه د دے نور د مړ کولو کوشش نه کوی - او د ایٰت بینٰت سره منافقانه طرز کوی - په دے آیاتونو کښ د منافقانو نهه صفات ذکر کړے دی په اول آیت کښ درے

إِلَى اللّٰهِ وَرَسُولِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ إِذَا

الله تعالٰی او رسول دَ هغهٔ ته دَ دے دَپاره چه فیصله اوکړی په مینځ دَ دوی کښ دغه وخت

فَرِيقٌ مِّنْهُمْ مُّعْرِضُونَ ﴿۴۸﴾ وَإِنْ يَّكُنْ

یو ډله دَ دوی نه مخ گرځوی۔ او که چرے وی

لَّهُمُ الْحَقُّ يَأْتُوا إِلَيْهِ مُذْعِنِينَ ﴿۴۹﴾

دَ دوی دَپاره فائده (دنیوی) راځی هغهٔ ته زر قبلوونکی۔

أَفِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ أَمِ ارْتَابُوا أَمْ

آیا دَ دوی په زړونو کښ مرض دے بلکه دوی بنهٔ شکیان دی بلکه

يَخَافُونَ أَنْ يَّحِيفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُولُهٗ

ویریږی چه ظلم به اوکړی الله تعالٰی په دوی باندے او رسول دَ هغهٔ

بَلْ أُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُونَ ﴿۵۰﴾ إِنَّمَا كَانَ

بلکه دغه کسان دوی ظالمان دی۔ یقینًا دهٔ

صفتونه. دویم آیت کښ یو صفت۔ دریم آیت کښ یو صفت۔ څلورم آیت کښ څلور صفتونه۔

وَيَقُولُونَ، پدے کښ پټ لفظ وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ ثُمَّ يَتَوَلّٰى، مطلب دا دے چه عملونه دَ مقتضٰی دَ ایمان نه مخالف کوی۔

وَمَآ أُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ، دا آیت دَ سورة بقره ۸ پشان دے۔

لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ، یعنی قرآن او سنت رسول ته دَ فیصلے کولو دَپاره را اوبللے شی هسے دَ تلاوت او دَ ختم دَپاره خو راځی لیکن دَ فیصلے نه اعراض کوی۔

إِذَا فَرِيقٌ، مراد دَ دینه منافقان دی۔ مِنْهُمْ، ضمیر ټولو مؤمنانو ته راجع دے۔

مُذْعِنِينَ، په تلوار سره قبلوونکی دی لیکن دا قبولیت دَ حق پرستۍ

قُوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذَا دُعُوْٓا
وینا دَ مؤمنانو کله چه اوبللے شی
اِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ
الله تعالیٰ او رسول دَ هغهٔ ته دَپاره دَدے چه فیصله اوکړی دَ دوی په مینځ کښ

دَ وجے نه نهٔ دے بلکه دَ مفاد پرستئ او خواهش پرستئ په وجه سره دے او دا مراد دَ الحق دے او دَ دے صفت مصداق پدے زمانه کښ هغه خلق دی چه په یو معامله کښ دَ قرآن او سنت (شرعی) فیصلے ته رااوبللے شی نو که فائده اوګنړه یې نهٔ وی نو وائی چه مونږ دَ ملک په قانون (غیر شرعی) باندے عمل کوؤ او که فائده اوګنړه ورته ملاویږی نو وائی چه زهٔ په شریعت فیصله کوؤم۔ دا رنګ هغه ملایان چه متعصب مقلدین دی چه قرآن او سنت په مقابله کښ فقهی روایات بے دلیله منی او وائی چه مقلد باندے قرآن او سنت ته رجوع منع ده او وائی چه مشران زمونږ نه ښه پوهیدل او که دَ دوی څه مفاد پکښ ښکاریږی نو بیا په قرآن او سنت باندے حوالے ورکوی۔

مَّرَضٌ، دَ دے نه مراد ضعف دَ ایمان دے اَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے۔

ارْتَابُوْٓا، یعنی دَ قرآن او سنت په احکامو کښ پوخ شک کوی او دا زوال دَ ایمان دے۔

اَمْ يَخَافُوْنَ، یعنی بلکه فیصلو دَ قرآن او سنت ته نسبت دَ ظلم او وحشیت کوی لکه وائی چه حد شرعی دَ زنا او غلا وغیره ظلم یا وحشی سزاګانے دی، او دا سے وئیل عین کفر دے۔

بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ، کښ اشاره ده چه دَ قرآن او سنت په فیصلو کښ هیڅ ظلم نشته بلکه دَ دے مخلوق په خود ساخته قوانینو او رواجونو کښ صریح ظلم دے۔

أَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ وَاُولٰٓئِكَ

چه وائي دوی واورېده مونږه اوتابعداري كوو مونږ، او دغه كسان

هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۵۱﴾ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ

دوی بچ كيدونكي دي- او چا چه تابعداري اوكړه دَ الله تعالىٰ

وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ

او دَ رسول دَ هغهٔ او يريږي دَ الله تعالىٰ نه (په باره دَ تير شوو عملونو كښ) او تقوىٰ به راتلونكو

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاَقْسَمُوْا

نو دغه كسان دوی كامياب دي- او قسمونه كړيدي دوی

بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ

په الله تعالىٰ باندے كلك قسمونه خپل كه چرے ته حكم اوكړے دوی ته

۵۱، ۵۲:- په دے آيتونو كښ ذكر دَ ښېږ صفاتو او احوالو دَ مؤمنانو دے دَ پاره دَ فرق ښكاره كيدلو دَ منافقانو نه او بشارت دے دوی لره په فلاح او فوز سره- فرق دَ فلاح او فوز په مينځ كښ دا دے چه (فلاح نَيْلُ الْخَيْرِ وَالنَّفْعِ الْبَاقِيْ اَثَرُهٗ) حاصلول دَ خير او دَ داسے فائدے چه اثر ئے باقي او هميشه وي - او (فوز اَلْخَلَاصُ مِنَ الْمَكْرُوْهِ مَعَ الْوُصُوْلِ اِلَى الْمَحْبُوْبِ) بچ كيدل دَ مصيبت نه او مقصد ته رسيدل (كتاب الفروق اللغوية لابي هلال العسكري)- هر كله چه اول صفت دَ جنت دَ حصول دَ پاره كافي دے ځكه چه نفس ايمان دے نو هغے سره فلاح ذكر شوه او په دويم آيت كښ پوره ايمان سره دَ امتثال دَ اوامرو او اجتناب دَ منهياتو نه ذكر دے نو هغه سبب دَ پوره كاميابئ دے چه هغے ته فوز وائي نو دَ دے وجے نه هغے سره ئے فوز ذكر كړے دے-

سَمِعْنَا، سمع دَ قبوليت مراد ده او دا دَ زړه صفت دے او اَطَعْنَا، دَ اندامونو صفت دے-

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ، كښ اشاره ده دَ ماموراتو دَ تابعدارئ او يَخْشَ اللّٰهَ، په باره دَ هغه اعمالو كښ دے چه مخكښ ئے كړے دي

لَيَخْرُجُنَّ ۖ قُل لَّا تُقْسِمُوا ۖ طَاعَةٌ

خامخا دوی په اوځی، ته اُوایه قسمونه مه کوئ تابعداری ستاسو

مَّعْرُوفَةٌ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٥٣﴾

معلومه ده ، یقیناً الله تعالیٰ خبردار دے په هغه کارونو چه تاسو کوئ۔

قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ۖ

اُوایه تابعداری کوئ دَ الله تعالیٰ او تابعداری کوئ دَ رسول

فَإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ

پس که چرې اوګرځوئ تاسو نو یقیناً دَ هغه په ذمه باندې هغه کار دے را دَ هغه په ذمه ایښودې شوې دے چه هغه ته سپارلے

دَ هغې دَ سزا نه ویریږی۔

وَيَتَّقْهِ ، په باره دَ هغه عملونو کښې دے چه په آئنده زمونږ کښې ئې کوی دَ مخالفت دَ الله او رسول نه ځان ساتی۔

۵۳ :- پدے آیت کښې زجر دے منافقانو ته او دَ هغو لسم صفت ذکر کوی یعنی هر کله چه په فرق بیانیدلو سره دوی بے اعتباره شول نو دَ دے وجے دیر تاکید ئې شروع کړو په قسم کولو سره په نوم دَ الله تعالیٰ باندے ځکه چه قسم په غیر الله باندے دوی په عام حالاتو کښې کوؤ لیکن قسم کول په نوم دَ الله تعالیٰ سره دَ دوی په نیز باندے مضبوط قسم وؤ۔

لَيَخْرُجُنَّ ، یعنی که ته مونږ ته حکم کوے نو مونږ ستا په تابعدارئ کښې دَ کورونو او اهل وعیال او مالونو نه اوځو او ستا حکم منو۔ یا مراد دا چه دَ جهاد دَپاره اوځو۔

طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ، دَ دے اول معنیٰ دا ده چه شرعی طاعت کول دَ قسم کولو نه غوره دے نو عبارت داسے دے طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ شَرْعِيَّةٌ خَيْرٌ مِّنْ أَنفُسِهِمْ ، دویم دا چه لازم دے په تاسو باندے طاعت شرعیه نو عبارت داسے دے عَلَيْكُمْ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ ، دریمه معنیٰ دا ده ستاسو طاعت معلوم او مشهور دے چه هغه طاعت دے دَ خپل مفاد او خواهش دَپاره لکه چه مخکښې تیر شو نو عبارت داسے دے طَاعَتُكُمْ طَاعَةٌ مَّعْرُوفَةٌ مَّعْلُومَةٌ۔

وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ ؕ وَإِنْ تُطِيعُوهُ

او په تاسو باندې هغه څه دي چه تاسو ته سپارلے شوي دي (يا تاسو په ذمه باندې کيخودے شوي دي) او که تابعداري اوکړئ دده

تَهْتَدُوا ؕ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلٰغُ

نو هدايت به اوموئ، او نشته په رسول باندې مګر رسول دی

الْمُبِينُ ﴿۵۴﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِينَ اٰمَنُوا

ښکاره - وعده کړيده الله تعالىٰ د هغه چا سره چه ايمان ئے راوړے دے

مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ

ستاسو نه او عملونه ئے کړي دي نيک (په تابعدارئ د نبي سره) خامخا خلافت به ورکوي دوي لره

فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ

په دنيا کښ لکه چه خلافت ئے ورکړے وو هغه کسانو ته

مِنْ قَبْلِهِمْ ۖ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ

چه د دوي نه مخکښ وو، او خامخا کلک به کړي دوي لره دين د دوي

الَّذِي ارْتَضٰى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ

هغه چه غوره کړيدے د دوي د پاره او خامخا بدل به کړي دوي لره

۵۴ : پدے کښ دعوت د اطاعتِ کامله دے منافقينو ته په اخلاص او په پريخودلو د منافقت سره او نقصان د تَوَلّي (طاعت پريخودل) ئے ذکر کړے دے - فَإِنْ تَوَلَّوْا سره مَا حمل نه مراد دعوت او تبليغ او ادائيګي د خپلو فرائضو ده - مَا حُمِّلْتُمْ، نه مراد قبلول د احکامو او تابعداري د رسول الله صلى الله عليه وسلم او اکرام د هغه دے او فائده د اطاعت ئے ذکر کړے ده - وَإِنْ تُطِيعُوا، د دے نه معلومه شوه چه په غير د تابعدارئ د نبي صلى الله عليه وسلم نه هدايت نه حاصليږي نو هغه پيران چه د ځان نه ئے طريقت او حقيقت جوړ کړيدے او وائي چه شريعت جدا دے او طريقت جدا دے او هغه بدعتيان چه د ځان

بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ اَمۡنًا ؕ يَعۡبُدُوۡنَنِیۡ

روستو دَ ویرے دَ دوی نه امن ، په داسے حال چه بندګی کوی زما

لَا يُشۡرِكُوۡنَ بِیۡ شَيۡـًٔـا ؕ وَمَنۡ كَفَرَ

شریک نه جوړوی ما سره هیڅ څیز ، او چاچه کفر اوکړو

بَعۡدَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡفٰسِقُوۡنَ ﴿۵۵﴾

روستو دَ دے نه نو دغه کسان دوی نافرمان دی۔

نه عقیدے او اعمال جوړوی او دَ هغے ثوابونه ذکر کوی دا ټول ګمراهان دی دَ دوی سره هدایت نشته۔

۵۵:- په دے آیت کښ بشارت دنیویه دے مؤمنانو لره۔ یعنی دَ اجراءِ دَ احکامو او قوانینو دَ دے سورت دَ پاره به الله تعالیٰ مؤمنانو ته خلافت ورکوی او په هغے کښ تذلیل راځی دَ منافقانو۔ او په آیت کښ درے اسباب دَ بشارت ئے ذکر کړی دی۔ ۱ ایمان ۲ عمل صالح ۳ عبادت دَ الله تعالیٰ دَ هر قسم شرک نه خالی۔ او درے بشارتونه ئے ذکر کړیدی ۱ استخلاف ، ۲ تمکین دَ دین اسلام ، ۳ امن۔ مقصد دَ خلافت نه غالب کول دَ دین اسلام دی۔ او ظاهره خبره ده چه غلبه دَ دین اسلام سبب دَ امن دے نو ځکه ئے په دے ترتیب سره ذکر کړل او هر کله چه کفر لوے سبب دَ خروج دَ طاعت دَ الله تعالیٰ دے چه هغه فسق دے او فسق سره دَ خلافت زوال راځی دَ دے وجے نه دَ آیت اختتام کښ الۡفٰسِقُوۡنَ ئے ذکر کړو۔

اَلَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ، نه مراد بنی اسرائیل دی روستو دَ هلاکت دَ فرعون نه دَ هغوی خلافت شروع شوے وو۔ او زمانه دَ داؤد او سلیمان علیهما السلام پکښ دَ خلافت بهتر مثال دے۔

فائده :- دَ مِنۡكُمۡ ، لفظ دلالت کوی چه دا وعده دَ هر مؤمن سره نشته بلکه دَ بعضو مؤمنانو سره ده سره دَ ارادے دَ الله تعالیٰ نه بیا دا وعده دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ وخت نه شروع شوه په ژوند دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ اسلام غالب شو په مکه ،

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَاَطِيْعُوا

او پابندی کوئ دَ مونځ او ورکوئ زکوٰة او تابعداری کوئ

الرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۵۶﴾ لَا تَحْسَبَنَّ

دَ رسول دَ دے دَپاره چه رحم اوکړے شي په تاسو باندے. ګمان مه کوه

خیبر، بحرین، جزیرة العرب، یمن، هجر، برمن اطراف دَشام او عمان، حبش کښ څوک فتح کړے شول اوچا باندے جزیه مقرر کړے شوه.
په زمانه دَخلیفه اول ابوبکر صدیق رضی الله عنه کښ دَجزیرة العرب نه مرتدین ختم کړے شول او بصرٰی، دمشق، حوران او بلادِ مصر او بعضے علاقه دَ فارس فتح کړے شوه.
په زمانه دَخلیفه ثانی عمر بن الخطاب رضی الله عنه کښ شام، مصر، اکثر بلاد فارس او روم فتح کړے شول او دَ کسرٰی او قیصر خزانے په مسلمانانو کښ تقسیم کړے شوے.
په زمانه دَخیلفه ثالث عثمان بن عفان رضی الله عنه کښ مغرب دَ بحر محیط پورے او په مشرق کښ عراق، خراسان، اهواز، کابل وغیره تـه خلافت اسلامیه را ورسیدلو. او دَ هغوی نه روستو هم دَ دنیا عام اطرافو سند هـ او هند باندے هم دَ مسلمانانو قوت غالب شو.
فائده:- الله تعالی خپله وعده پوره کړیده لیکن هرکله چه مسلمانانو تمسّک په کتاب الله او سنت رسول الله باندے پریخودلو او شرکیاتو او مشابهت دَکفارو ته ئے دین اُولیلو او دَ شرعي قانون په بدل کښے نور قوانین خوره کړل نو معامله برعکس شوه یعني کفار په هر ملک کښ په مسلمانانو باندے مسلّط شول او ذلیل او مغلوب شول. (اَللّٰهُمَّ وَفِّقْنَا لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى وَانْصُرْنَا عَلٰى اَعْدَائِنَا وَاَعِنَّا عَلَيْهِمْ وَامْكُرْ لَنَا عَلَيْهِمْ وَلَا تُسَلِّطْهُمْ عَلَيْنَا) (آمین).
۵۶ :- پدے آیت کښ دَ بقا دَ خلافت دَپاره درے اوامر ذکر دی اقامة الصلوٰة، ایتاء الزکوٰة او اطاعت رسول دَ ژوند په ټولو لمحاتو کښ او خصوصًا په طریقه دَ مونځ او دَ زکوٰة کښ دَ هغه طاعت واجب دے.
ترحمون کښ بقاء دَه خلافتِ اسلامیه ته اشاره ده.

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۚ

په هغو کسانو باندې چې کفر یې کړی دی ګمان ونکړې چې عاجز کوونکي د الله تعالی دي په زمکه کښې

ع۷ ۱۴ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۖ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿٥٧﴾

او ځای د دوی اور دې، او خامخا ناکاره ځای د ورتللو دې.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ

اې ایمان والو پکار دی چې اجازت غواړي ستاسو نه هغه کسان

مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا

چې مالک دي په هغوی باندې ښی لاسونه ستاسو او هغه کسان چې ندی رسیدلی

الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ ۖ مِنْ قَبْلِ

بلوغ ته ستاسو نه درې وختونه، مخکښې د

صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ

مونځ د صبا نه او کوم وخت چې کیږدئ تاسو جامې ستاسو

مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ۖ

د غرمې په وخت کښې او روستو د مونځ د ماسخوتن نه،

ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ ۖ لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا

دا درې وختونه د پردې ستاسو دي، نشته په تاسو باندې او نه

عَلَيْهِمْ جُنَاحٌۢ بَعْدَهُنَّ ۖ طَوّٰفُوْنَ

په دوی باندې ګناه سوا د دې (وختونو نه) ډیر تلونکي راتلونکي دي

۵۷:۔ په دې آیت کښې تخویف دې مخالفینو د مؤمنانو ته او تسلي ده رسول او ایمان والو ته چې کافران ستاسو نه خلافت نشي اخستلې ځکه چې الله تعالی سره دوی مقابله نشي کولې.

عَلَيْكُمْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ كَذٰلِكَ

په تاسو باندے بعضے ستاسو په بعضو باندے ۔ دغسے

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته حکمونه ، او الله تعالیٰ پوهه دے

حَكِيْمٌ ﴿۵۸﴾ وَاِذَا بَلَغَ الْاَطْفَالُ مِنْكُمُ

حکمتونو والا دے ۔ او کله چه اورسی وارهٔ بچی ستاسو ته

۵۸:۔ هر کله چه مقصد دَ خلافت امن دے سرهٔ دَ حرج لرے کولو دَ مؤمنانو نه او بنیاد دَ امن عفت او محبت دے نو اوس درے قوانین دَ دے دَ پاره ذکر کوی۔

په دے آیت کښ اول قانون دَ هغے نه ذکر کوی۔ په یکښ استیذان دَ اولاد او دَ خادمانو ذکر کوی او مخکښ په ۲۷ کښ ئے استیذان دَ اغیارو ذکر کړے وو۔ مطلب ئے دا دے چه درے وختونه داسے دی چه انسان دَ عام عادت په وجه په دغه اوقاتو کښ بے پردے او بے پروائی سره ناست وی۔ ۱ دَ صبا دَ مانځه نه مخکښ ۲ دَ غرمے په وخت ۳ او دَ ماسخوتن دَ مانځه نه روستو نو په دے اوقاتو کښ دِ غلامان خادمان او نابالغ اولاد (چه مراهق وی په عوراتو باندے پوهیږی) دِ دَ داخلیدلو دَ پاره اجازت غواړی، او بغیر دَ دے اوقاتو نه دَ اجازت اخستلو ضرورت نشته ځکه چه دوی هر وخت ځی راځی نو که هر وخت اجازت اخستل فرض شی نو حرج به راشی او الله تعالیٰ په دین کښ حرج نه غواړی۔ ابو داؤد دَ ابن عباس رضی الله عنه نه روایت راوړے دے۔ چه په دے آیت باندے اکثر خلق عمل نه کوی (او منسوخ نه دے) او زهٔ خو خپلے وینځے ته هم دا امر کوم (ابن کثیر)

ثَلٰثَ مَرّٰتٍ، مراد دَ دے نه درے وختونه دی په شپه او ورځ کښ۔

وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ، مراد دَ دے نه کوړے جامے دی لکه بعض خلق دَ آرام کولو په وخت کښ نوے جامے اوباسی یا مراد دَ دینه زیاتے جامے دی په اسے طریقه سره چه اکثره حصه دَ عورت ئے ښکاری پرواه نه کوی

الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ

بلوغ ته پس اجازت دې غواړي هر وخت لکه چه اجازت غوښتلو هغه کسانو

مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ

چه د دوی نه مخکښې (بالغان شويدي)، دغسې بيانوي الله تعالیٰ تاسو ته

آيَاتِهِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٥٩﴾ وَالْقَوَاعِدُ

احکام خپل، او الله تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے۔ او بوډۍ کانې

مِنَ النِّسَاءِ اللَّاتِي لَا يَرْجُونَ نِكَاحًا فَلَيْسَ

د زنانو نه هغه چه اُمید نه لري د نکاح کولو نو نشته

عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ أَنْ يَضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ

په دوی باندے گناه چه کيږدي پرونی خپل

غَيْرَ مُتَبَرِّجَاتٍ بِزِينَةٍ ۖ وَأَنْ يَسْتَعْفِفْنَ

نه په وی ښکاره کوونکی خپل ډول لره ، او ځان بچ ساتل

په دے وخت (غرمه) کښې اکثر جماع کول نه وی نو علت ئے صرف وضع الثياب ذکر کړيدے او مخکښې د مونځ د فجر او روستو د مونځ د عشاء نه دواړه وجې شته نو د هغې ذکر ته حاجت نشته۔

طَوّٰفُوْنَ آه دا علت دے د تير شوی حکم د پاره او مراد د دے د خدمت په وجې سره او مور او پلار ته د بچو د ډير حاجتونو په وجې سره تله راتله کيږي نو که هر وخت اجازت طلب کول لازم شی نو ډير حرج به راشی۔

۵۹ :۔ دا د مخکښې قانون تتمه ده يعنی چه دغه هلکان (اولاد) بالغان شی نو بيا هر وخت دا سے اذن غواړي کوم چه په ۲۷ کښې تير شويدی۔ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ نه مراد هغه کسان دی چه د دوی نه مخکښې بالغان شويدی او هغوی ته عام حکم مخکښې ۲۷ کښې تير شويدے او دا د دواړو آيا تونو په اختتام کښې د تاکيد د پاره ئے كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ ذکر کړيدے۔ هر کله چه په روستو آيت کښې حواله ورکړے وه په مخکښې حکم باندے

خَيْرٌ لَّهُنَّ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۶۰﴾

ډیر غوره دی دوی لره، او الله تعالیٰ آوریدونکے دے پوهه دے۔

لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ

نشته په روند باندے گناه او نه په گوډ باندے

حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ وَّلَا

گناه او نه په ناجوړه باندے گناه او نه

عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ

په ځانونو ستاسو باندے چه خوراک کوئ د کورونو خپلو نه

اَوْ بُيُوْتِ اٰبَآئِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اُمَّهٰتِكُمْ

یا د کورونو د پلارانو ستاسو نه یا د کورونو د میندو ستاسو نه

اَوْ بُيُوْتِ اِخْوَانِكُمْ اَوْ بُيُوْتِ اَخَوٰتِكُمْ

یا د کورونو د وروڼو ستاسو نه یا د کورونو د خویندو ستاسو نه

نو د هغے د اشارے د پاره ابتلاء ذکر کړو او مخکنی آیت کښ ئے مطلق حکم وؤ نو الآیات ئے ذکر کړیدے۔

سلا:۔ دا دویم قانون دے د پاره د دفع کولو د حرج، سره د بیان د عفت نه۔

وَالْقَوَاعِدُ، کښ اشاره ده چه دوی د عام ضروریاتو (چه زنانو سره تعلق لری) نه عاجزے شوے دی۔

الّٰتِیْ لَا یَرْجُوْنَ نِکَاحًا، په دے صفت سره اشاره ده چه دوی د عمر داسے انتهاء ته رسیدلی دی چه شوق او رغبت خاصه تر ینه ختم شوے وی او په داسے حال کښ د جانبینو نه د بد اخلاقئ پیدا کیدلو هیڅ خطره نشته۔

ثِیَابَهُنَّ، مراد د دینه پړونے او برقه او لوے څادر دے۔

غَیْرَ مُتَبَرِّجٰتٍ بِزِیْنَةٍ، یعنی پړونے نهٔ استعمالول د زینت ښکاره کولو د پاره نه کوی یا دا چه پردو خلقو ته سینه، غاړه، مټے، پنډئ نه ښکاره کوی او دا

أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمّٰتِكُمْ

يا دَ کورونو دَ ترونو ستاسو نه يا دَ کورونو دَ ترور يانو ستاسو

أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خٰلٰتِكُمْ

يا دَ کورونو دَ ماماګانو ستاسو نه يا دَ کورونو دَ ماسی ګانو ستاسو نه

أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَّفَاتِحَهٗٓ أَوْ صَدِيقِكُمْ

يا دَ هغه کورونو نه چه مالک يئ تاسو دَ چابيانو (کنجيانو) دَ هغې يا دَ دوستانو ستاسو نه،

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا

نشته په تاسو باندې ګناه چه خوراک کوئ

جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ۚ فَإِذَا دَخَلْتُمْ

په يو ځائے يا ځان ځانله ، نو کله چه داخليږئ تاسو

بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلٰٓى أَنْفُسِكُمْ تَحِيَّةً

کورونو ته نو سلام اوکړئ په اوسيدونکو دَ هغې باندې پيشکشي ده

مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ مُبٰرَكَةً طَيِّبَةً ۚ كَذٰلِكَ

دَ طرف دَ الله تعالىٰ نه برکتونو والا زړه خوشحاله کوونکې، دغسې

ع ۸ / ۱۴ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٦١﴾

وضاحت کوی الله تعالىٰ تاسو ته دَ حکمونو دَ پاره دَ دے چه دَ عقل نه کار واخلئ.

رنګ مخ ته اوشونړ وا و لاسونو خپو ته رنګ نه ورکوی۔
وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ، په دے کښ اشاره ده چه احکاموکښ دوه قسمونه
دی يو عزيمت چه په هغې باندے عمل کول غوره کار وی او دويم
رخصت چه په هغې باندے عمل کول جائز وی ۔
ملا :۔ دا دريم قانون دے دَ پاره دَ دفع کولو دَ حرج ، سره دَ
اسبابو دَ محبت نه په مابين کښ ۔ مطلب دا چه کله دَ انسان دَ
معذوره کسانو سره شريک خوراک کولو کښ حرج او ګناه ګڼړی

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ

يقيناً	مؤمنان	هغه کسان دي چه ايمان يې راوړی دی په الله تعالیٰ باندې

هسې نه چه دوی نه زیاته اوخوری او دا رنګ د پلار او مور او ورور وغیره د کورونو نه خوراک کول (په اسې وخت کښ چه مالک د کور نه وی) حرج اوګناه ګنړی نو په دې آیت کښ د دې حرج نفی کوی ۔ او ترغیب دې چه په دې شرکت او خوراک کولو سره ستاسو په مینځ کښ محبت پیدا کیږی ۔ دا رنګ د دفع د حرج او د محبت پیدا کولو د پاره په دې آیت کښ په جمع خوراک او ځان ځان له خوراک کولو اجازت ورکړې شوې ده او د محبت د پاره د سلام کولو حکم ئې ورکړې دې په وخت د داخلیدلو کښ دغه کورونو ته ۔

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمَىٰ حَرَجٌ ، اوله معنیٰ دا ده چه نشته په تاسو باندې ګناه په خوراک کولو کښ د دې معذورینو سره ۔ دویمه معنیٰ دا ده نشته په دې معذورینو باندې څه ګناه چه تاسو سره شریک خوراک کوی ۔

مِنْ بُيُوتِكُمْ ، مراد د دې نه هغه کور دې چه دغه شخص په هغې کښ اوسیږی او خپل خرچ کوی ۔ دا ئې د دې وجې نه ذکر کړو چه څه رنګ د خپل کور نه خوراک کولو کښ حرج نشته دا رنګ دغه نورکورونه هم د دې پشان اوګنړئ ۔ یعنی اقرباء او دوستان دې د یوبل نه په خوراک کولو سره خفګان نه کوی ۔ او ابن کثیر وئیلې دی چه په بُيُوتِكُمْ ، کښ کورونه د ځامنو هم داخل دی ځکه چه حدیث کښ ذکر دی چه مال د اولاد مال د والد دې (په وخت د ضرورت کښ) اوصَدِيقِكُمْ ، دا سې دوست چه په دې خبره (چه دوست د هغه کور نه خوراک اوکړی) خوشحالیږی ۔

جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا ، دواړه جائز دی لیکن په جمع سره په یو لوخی کښ خوراک غوره دې د دې وجې نه جمیعا مخکښ ذکر کړې شوې ۔

فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنْفُسِكُمْ نه مراد په کور کښ اوسیدونکی دی اګرچه خپله ښځه او اهل وعیال وی او دې ته ئې تَحِيَّةً ، ځکه اوئیل چه دا سبب د حیات او دُعا د حیات ده مقرر د جانب د الله تعالیٰ نه ، مُبَارَكَةً ، د دې وجې نه ئې اوئیل چه سبب د محبت او د دوستانې او د لرې کولو د بُغض او د حسد دې ۔

وَرَسُولِهٖ وَاِذَا كَانُوْا مَعَهٗ عَلٰٓى اَمْرٍ

او په رسول د هغهٔ او کله چه وی د هغهٔ سره په یو کار

جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوْا حَتّٰى يَسْتَاْذِنُوْهُ ؕ

جمع کوونکی باندے نو دوی نه ځی د هغهٔ نه تر دے پورے چه اجازت ترینه اوغواړی،

اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

یقینًا هغه کسان چه اجازت غواړی ستا نه دا هغهٔ خلق دی

يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ فَاِذَا اسْتَاْذَنُوْكَ

چه ایمان لری په الله تعالٰی او په رسول د هغهٔ باندے نو هر کله چه اجازت غواړی دوی ستا نه

لِبَعْضِ شَاْنِهِمْ فَاْذَنْ لِّمَنْ شِئْتَ مِنْهُمْ

د بعضے خپل کار د پاره نو اجازت اوکړه هغه چا ته چه خوښه شی ستا د دوی نه

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۶۲﴾

او بخنه اوغواړه دوی لرہ د الله تعالٰی نه، یقینًا الله تعالٰی بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔

طَيِّبَةً، ئے ځکه اوئیل چه اوریدونکے په دے سره خوشحالیږی۔

۶۲۔ تیر آیت سره ربط دا دے چه د سلام حکم لکه چه د مسلمانانو په
کورنئ کښ دے نو دارنګ په وخت د رخصتئ کښ د نبی صلی الله علیه
وسلم ته هم حکم د سلام دے د پاره د رخصت اخستلو۔ او د کل سورت
سره مناسبت دا دے چه مخکښ آداب او احکام قرآنیه بیان شول چه
هغے ته آیات بینات وئیلے کیدل نو په آخر کښ شان د رسول ذکر کوی چه
د قرآن پشان د نبی صلی الله علیه وسلم د احکامو احترام او عمل کول
ضروری دی او په دے آیاتو کښ مقابله ده د صفات د مؤمنانو او د منافقانو۔
اَمْرٍ جَامِعٍ، نه مراد هغه کار دے چه امیر المؤمنین اصحاب الرائے را جمع کړی۔
د مشورے د پاره او بعضے اهل علمو داخل کړیدے په دیکښ مونځ د جمعے او
د مونځونو جماعت هم۔ بلکه کله چه یو کس په سفر باندے او ځی نو هغهٔ
له هم پکار دی چه د خپل امیر نه اجازت اوغواړی۔

لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ
مه گرځوی بلنه د رسول په کوروئ کښ پشان د بلنے
بَعْضِكُمْ بَعْضًا ۚ قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ
د بعضے ستاسو بعضو لره، یقینًا پیژنی الله تعالیٰ هغه کسانو لره
يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ
چه پټ خوځیږی ستاسو د مجلس نه ځان پټوی، پس او د ویریږی
الَّذِيْنَ يُخَالِفُوْنَ عَنْ اَمْرِهٖٓ اَنْ
هغه کسان چه خلاف کوی د طریقے د نبی نه چه
تُصِيْبَهُمْ فِتْنَةٌ اَوْ يُصِيْبَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۶۳﴾
او په رسیږی دوی ته فتنه یا به او رسیږی دوی ته عذاب درد ناک۔

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللّٰهَ، پدے سره دُعا په وخت د رخصت کیدلو ثابته شوه لیکن لاس پورته کول پکښ ضروری اولازم نه دی۔ او پدیکښ اشاره ده چه هرکله امیر استغفار دُعا اوغواړی نو معلومه شی چه اذن یے په خوشحالئ سره کړیدے۔
۶۳:۔ ددے آیت په اوله جمله کښ ذکر د عظمت شان د نبی صلی الله علیه وسلم دے۔ او دویمه جمله کښ ذکر د حال د منافقانو دے۔ او دریمه جمله کښ تخویف دے مخالفت کوونکو د سنت د نبی صلی الله علیه وسلم ته۔
لَا تَجْعَلُوْا دُعَآءَ الرَّسُوْلِ، پدیکښ درے توجیهات دی اوله توجیه دا ده چه دُعَآءَ په معنیٰ د آواز کولو ده، مطلب دا دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په نامه آواز مه کوئ لکه چه یو بل ته آواز ونه کوئ یعنی یا محمد مه وایئ بلکه په وخت د خطاب کښ یا نبی الله اویا رسول الله وایئ۔ هم دا رنګ ابن کثیر او ابن جریر د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدے۔ د دے وجے نه په هیڅ حدیث صحیح کښ نشته چه یو صحابی نبی صلی الله علیه وسلم ته په محمد سره آواز کړیوی بلکه دا آواز منافقانو او یهودیانو

أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ط

خبردار یقیناً د الله تعالی دپاره اختیار دے د هغه څیزونو چه په آسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی،

په کوؤ - او که د الله تعالی یا د جبرائیل د طرف نه آوازوی په محمد سره نو په هغې باندے قیاس کول صحیح نه دی هغوی د دے آیت مخاطب نه دی.
دویمه توجیه دا ده دعا په معنیٰ مشهورے سره ده مطلب دا دے هر کله چه مخکښ آیت کښ پیغمبر ته ئے اوفرمائیل چه وخت د اجازت ورکولو کښ دوی دپاره د الله تعالی نه دُعاء د مغفرت غواړه نو اوس ترغیب ورکوی چه د نبی صلی الله علیه وسلم دُعا کول د خپلو دعا گانو پشان مه گنړئ ځکه چه د هغهٔ دعا قبوله ده - نو د هغهٔ د دعا د حاصلولو دپاره د هغه نه اذن طلب کول ضروری دی . دریمه توجیه دا ده چه دُعا په معنیٰ د حکم سره ده یعنی د نبی صلی الله علیه وسلم حکم کول د خپلو حکمونو پشان مه گنړئ د هغه د حکم تابعداری کول فرض دی .
يَتَسَلَّلُوْنَ مِنكُمْ، تسلل په معنیٰ د پټ پټ خوځیدلو دے - لِوَاذًا ، معنیٰ ځان پناه کول یعنی منافقانو به د نبی صلی الله علیه وسلم په مجلس کښ ځان د بل شا ته کړو او بے اجازته به د مجلس نه پټ لاړو - او دا صفت هغه چاته شامل دے چه په حیلو دهوکو سره د نبی صلی الله علیه وسلم د سنت او طریقے نه ږده کوی او مخالفت کوی - يُخَالِفُوْنَ عَنْ أَمْرِهٖٓ ، ابن کثیر وئیلے دی چه أَمْرِهٖٓ نه مراد منهاج او سنت او شریعت د نبی صلی الله علیه وسلم دے نو ټول اقوال او اعمال به د هغهٔ په سنت سره تللے کیږلے شی که د هغے سره برابروی ډیره ښهٔ ده او که د هغهٔ د سنت نه خلاف وی نو هغه مردود دی او د دے آیت د لاندے داخل دی.
فِتْنَةٌ ، د دے نه مراد کفر او نفاق او بدعت دے یعنی مخالفت د سنت رفته رفته انسان لره په بدعت او کفر او نفاق کښ اچوی یا مراد د دینه عذابونه د دنیا دی لکه قحطونه گرانی ظالم بادشاهان وغیره د سنت د مخالفت د وجے نه راځی لکه پدے زمانه کښ چه نبی صلی الله علیه وسلم سنت طریقے مسلمانانو شاته غورځولے دی او په عقیدو یا عملونو یا په حکمونو، قوانینو متلو کښ د قرآن او د حدیث نه خلاف لاړلے

قَدْ يَعْلَمُ مَآ اَنْتُمْ عَلَيْهِ ؕ وَ يَوْمَ

يقيناً عالم دے الله تعالیٰ په هغه حال باندې چه تاسو په هغې باندې يئ، او په كومه ورځ

يُرْجَعُوْنَ اِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا

چه او به گرځولے شي دوی هغه ته نو خبر به ورکړی دوی ته الله تعالیٰ په هغه

عَمِلُوْا ؕ وَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۶۴﴾ ع ۹ س ۱۵

عملونو چه دوی کړی دی، او الله تعالیٰ په هر څيز باندے عالم دے۔

ئے اختيار کړے دی د دے وجے نه هر ملک کښ د کافرانو په لاسونو باندے ذليل کيږی او مختلف عذابونو کښ مبتلا دی۔ او عَذَابٌ اَلِيْمٌ، دنيوی او اُخروی دواړو عذابونو ته شامل دے۔

(اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ - وَ نَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْاَعْدَاءِ. وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَّا يَرْحَمُنَا - اَللّٰهُمَّ آمين)۔

۶۴ :- هر كله چه تيرشوی آيت كښ ذكر د عذاب ئے اوكړو نو په دے كښ ذكر كوی چه الله تعالیٰ قادر او پوره اختيار مند دے عذاب وركولے شي او عالم هم دے په هغه چا باندے چه مستحق د عذاب دی او په دے آيت كښ اختتام د سورت دے په مسئله د توحيد باندے په رد د شرك في التصرف او شرك في العلم سره۔ او اثبات د قيامت دے په يَوْمَ يُرْجَعُوْنَ سره۔

(ختم شو تفسير د سورة النور په حمد د الله تعالیٰ سره)

سورة الفرقان مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰياتها: ۷۷ ركوعاتها: ۶

خاص په نوم د الله تعالى اعم ادعوا او په شروع كوم كوم چه رحمن او رحيم دے

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ

بركتونو والا دے هغه ذات چه لږ لږ ئے نازل كړے دے فرقان په بنده خپل باندے

لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ۝ ۱ الَّذِيْ

د پاره د دے چه شي مخلوقاتو لره (انس وجن) ويره وركوونكے - هغه ذات

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الفرقان

ربط :- د دے سورت د سورة النور سره دا دے چه په هغه سورت كښ د توحيد او شرك فرق ئے په مثالونو سره ذكر كړے دے نو په دے سورت كښ د اهلِ توحيد او اهلِ شرك فرق په بيان د صفاتو د فريقينو سره ذكر كوي. او دا رنګ په هغه سورت كښ منع او كړه د اعمالو د جاهلانو نه نو په دے سورت كښ منع كوي د هغوى د عقيده و باطلو نه - او دا رنګ هر كله چه په نور سره فرق راځي نو د دے وجے نه فرقان ئے په نور پسے راوړو.

دعوى :- د دے سورت - رد دے په شرك في البركات باندے په رد د ټولو قسمونو د شرك او په عقلي دليلونو سره او په نقلي دليلونو سره د تخويفاتو د منكرينو نه - او په زجرونو سره په انكار د مقاصدو خلورو چه توحيد او صدق رسول او صدق د قرآن او اثبات د بعث بعد الموت دے - او په ذكر د تقابل د صفاتو د مشركينو او مؤمنانو سره -

خلاصه د سورت :- دا سورت تقسيم دے څلورو بابونو ته - اول باب تر ۳۵ پورے دے په دے كښ دعوى د سورت ده او په هغے باندے شپږ دليلونه عقليه دي - بيا شپږ امور ئے نفي كړيدي د معبودانو باطلو نه او دا زجر دے مشركانو ته - بيا زجر دے په انكار د قرآن په شپږ وجوهو سره بيا زجر دے په انكار د رسول په شپږ وجوهو سره -

تفسير :- ۱ :- دا دعوى د سورت ده په رد د شرك في البركات سره او په

لَّهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ

چه خاص هغهٔ لره بادشاهي دٓ آسمانونو او دٓ زمکې ده او نهٔ يې دے نيولے

وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِى الْمُلْكِ

ولد (ځوے) او نشته دٓ لره برخه والا په بادشاهئ کښ

وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا ﴿۲﴾

او پيدا کړيدے هر څيز نو اندازه يې وړکړيده خاص اندازه ۔

دے سورت کښ يې درے ځله ذکر کړيده اول کرت مراد برکات دنيويه دی، دويم کرت مراد برکات اخرويه دی او دريم کرت مراد برکات روحانيه دی۔
تَبٰرَكَ . په لفظ دٓ برکت کښ معنیٰ دٓ دوام او ثبات ده او معنیٰ دٓ ډيروالی دٓ خير او دٓ فائدے ده. په اول معنیٰ سره لازمی دے يعنی هميشه (او پاک دٓ فنا نه) الله تعالیٰ دے او دويمه معنیٰ سره متعدی دے يعنی ډير خير او فائده ورکوونکے الله تعالیٰ دے يعنی خير او نعمتونه پيدا کوونکے او په هغه نعمتونو کښ اثر او زيادت پيدا کوونکے الله تعالیٰ دے او دا دواړه معنے په الله تعالیٰ پورے خاص دی نو دٓ دے وجے نه لفظ دٓ تَبٰرَكَ په الله تعالیٰ پورے خاص دے۔ او تفسير القرطبی کښ ليکلی دی چه الله تعالیٰ ته متبارك او مبارك نشی وئيلے کيدلے (يعنی په زور دٓ ژبے سره) ځکه چه الله تعالیٰ په برکاتو کښ بل چاته محتاج نه دے۔
اَلَّذِىْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ ، دا اول دليل عقلی دے۔ او قرآن نازليدل دٓ ټول عالم دپاره برکت دے او لوے برکت پکښ دا دے چه دٓ حق او باطل فرق او تميز پرے قرآن سره کيږی ځکه لفظ دٓ فُرْقَانَ يې ذکر کړو۔ لِيَكُوْنَ په يکښ ضمير عَبْدٌ ته يا فُرْقَانَ ته راجع دے او عٰلَمِيْنَ نه مراد تمام انسانان او پيريان دی او دا دليل دے چه دا نبی او دا کتاب آخری دی دٓ دے نه روستو بل نوے نبی يا کتاب نشی راتللے۔
ف۱: په دے آيت کښ پنځه دليلونه دی په ذکر دٓ صفاتو دٓ الله تعالیٰ سره چه درے صفتونه ثبوتی او دوه صفتونه سلبی دی۔ يعنی بادشاهی په

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً لَّا يَخْلُقُوْنَ

او جوړکړيدي دوی سوا د الله تعالیٰ نه برکات ورکوونکي الهه چه نشي پيدا کولے

شَيْـًٔا وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ

هيڅ څيز او هغوی پيدا کړے شويدی او اختيار نه لري

لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا وَّلَا يَمْلِكُوْنَ

دپاره د ځانونو خپلو د هيڅ نقصان او نه د فائدے او اختيار نه لري

مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا ③ وَقَالَ

د مرګ او نه د ژوند او نه د دوباره پورته کولو۔ او وائي

ټولو څيزونو د الله تعالیٰ ده مخلوق ټول د هغهٔ رعيت او مملوک دے نو دوی اختيار د برکاتو ورکولو نه لري بيا سوال پيدا شو که اوليا شي کيديشي چه الله تعالیٰ به اختيار د برکاتو ورکولو بل چاته سپارلے وی يا به ئے په برکات ورکولو کښ بل چا لره د ځان سره حصّه دار جوړکړے وی نو د دے جواب ئے اوکړو پدے قول سره چه وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ شَرِيْكٌ فِى الْمُلْكِ، دا رنګ ئے اوفرمائيل هرڅه الله تعالیٰ پيدا کړے دی نو تمام خيرا ونعمتونه د الله تعالیٰ مخلوق دے۔ بيا که سوال اوکړے شي چه خالق خو الله تعالیٰ دے ليکن کيديشي چه بل څوک پکے نعمتونو او خير کښ کمے زياتے اچوی نو جواب ئے اوکړو فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا سره يعنې الله تعالیٰ د هر څيز خاص انداز مقرر کړيدے نو هيڅوک په هغے کښ تبديلي نشي راوستلے نو معلومه شوه چه د برکاتو اختيار مند صرف الله تعالیٰ دے. او دا آيت دليل دے چه تقدير د هر خير وشر الله تعالیٰ کړيدے په تقدير باندے ايمان راوړل فرض (رکن د ايمان) دے او تقدير خو د خلق نه مخکښ دے ليکن روستو ئے په فاء سره ذکر کړو چه دلالت اوکړی په موافقت د خلق د تقدير سره۔

مسئله: پدے آيت کښ زجر دے مشرکانو ته په شرک فی البرکات سره۔ اٰلِهَةً، مراد د دينه هغه معبودان ماسوا الله دی چه عقيده اولرلے شي

الَّذِیْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ

هغه کسان چه کفر یې کړیدے نه دے دا (قرآن) مګر دروغ دي

اِفْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ

چه ځان ته یې جوړ کړیدی (دے نبی) او مدد کړیدے دده سره پدے باندے خلقو نورو

فَقَدْ جَآءُوْ ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۞ وَقَالُوْٓا

نو یقینًا راوړے دوی ظلم او دَ دروغو خبره۔ او وائي دوی

اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى

دا دروغ قیصے دَ زړو خلقو دي چه لیکلے دي دَ رسول په بل چا ذریعه بیا دَ هغے املاء

عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۞ قُلْ اَنْزَلَهُ

(دبیان کید شي) پده باندے صباني او بیګاني۔ ته او وایه نازل کړیدے دا قرآن

چه اختیارمند دَ برکاتو دوی دی او بندګی ورله کیږی۔ او په یکښ شپږ اوصاف دَ هغوی نه یې نفی کړے او یو صفت یې ورله ثابت کړے یعنی مخلوق دی یعنی چه خالق نه دی او مالک نه دی نو برکات به چا ته څنګه ورکړے شي۔

ضَرًّا، هیڅ نقصان مالی او مرض بدنی دَ دفع کولو اختیار نه لری موتًا ولاحیاتًا ولا نشورًا عام دے موت او حیات خپل او دَ پردی ته دَ دے وجے نه نکره یې ذکر کړے دی۔

۳:۔ دا زجر دے په انکار دَ قرآن سره په درے طریقو سره۔

۱ افك، ۲ افتراء، ۳ امداد دَ بل چا، اول دواړو ته یې ظلم اوئیل ځکه رشتنی کتاب نه دروغ او افتراء وئیل واقعی ظلم دے او دریم ته یې زور اوئیل ځکه چه زور او ډیرلو ته وئیلے شي نو دَ دوی دریمه خبره دَ حقیقت نه بالکل اوړیدلے ده۔ دَ وجے دَ دینه چه قرآن دَ دوی په شرک باندے رد کوی نو دوی انکار دَ قرآن نه کوی۔

۵:۔ په یکښ هم زجر دے په درے طریقو سره۔ اِكْتَتَبَهَا، طلب دَ کتابت دَ بل چا نه، ځکه چه پخپله کتابت نشي کولے۔ املاء دَ بل طرفنه،

الَّذِیْ یَعْلَمُ السِّرَّ فِی السَّمٰوٰتِ

هغه ذات چه پوهیږی په هر پټ څیز په آسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ کَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ۝۶

او زمکه کښ، یقیناً الله تعالیٰ دے بخنه کوونکے رحم کوونکے.

وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ یَاْکُلُ الطَّعَامَ

او دوی وائی څۀ وجه ده دے رسول لره چه خوری خوراک

وَیَمْشِیْ فِی الْاَسْوَاقِ ؕ لَوْلَآ اُنْزِلَ اِلَیْهِ

او ګرځی په بازارونو کښ، ولے نۀ شی نازلیدلے دۀ ته

مَلَكٌ فَیَكُوْنَ مَعَهٗ نَذِیْرًا ۝۷ اَوْ یُلْقٰٓی

ملک (فرښته) چه شی د دۀ ملګرتیا کښ ویره ورکوونکے. یا (ولے) نه راغورځیدے شی

اِلَیْهِ كَنْزٌ اَوْ تَكُوْنُ لَهٗ جَنَّةٌ یَّاْكُلُ

دۀ ته خزانه او یا ولے نشته دۀ لره باغ چه خوری

څکه چه دے پخپله خط نشی لوستلے. بُكْرَةً وَّاَصِیْلًا، شپه او ورځ یا وخت
د صبا او بیګا مراد دے.

۶:- پدے آیت کښ رد دے په دغه شپږ طریقو باندے او ذکر د
صدق د قرآن دے.

السِّرَّ، هر کله چه په پټو څیزونو علم لری نو ښکاره باندے خو امخوا
علم لری. او په السِّرَّ راوړلو کښ اشاره ده چه په قرآن کریم کښ
رازونه حکمتونه بے شماره دی نو ولے د دے نه انکار کوئ.

اِنَّهٗ کَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا، یعنی که توبه اوکړے نو الله تعالیٰ به درته
مغفرت او رحمت اوکړی پدیکښ ترغیب دے منکرینو ته د توبے
او انابت کولو. ابن کثیر د حسن بصری نه نقل کړیدے چه اوګورئ کرم
او جود د الله تعالیٰ ته چه دا خلق وژنی دوستان د الله تعالیٰ، او الله تعالیٰ دوی
لره دعوت ورکوی توبے او رحمت ته.

مِنْهَا ۭ وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ

دَ هغې نه ، او وائي ظالمان تابعداري نه کوئ تاسو

اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۝۸ اُنْظُرْ كَيْفَ

مګر دَ سړي چه ليونے شوے په جادو سره . اوګوره چه څرنګه

ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا

بيان وي دوی تا سره صفتونه (د انکار) پس ګمراه شول دوی نو نه شي

يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝۹ تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ

طاقت دَ لارے . برکتونو والا دے هغه ذات

ع ۱

ت،ث . په دے کښې زجر دے په انکار دَ رسول سره او هر کله چه قرآن دے رسول نا وړیدے دَ دے وجې نه دوی دَ هغه دَ رسالت نه انکار شروع کړو .
او په هغهٔ باندے هم شپږ اعتراضونه دی . په اول آیت کښې دَ څلور او په دویم کښې هم دوه ، په اول کښې ذکر دَ صفات دَ بشریت دے او په هغے باندے دَ دوی اعتراض کول اشارهٔ ده چه دَ مشرکانو په عقیدهٔ کښې بزرګان هغهٔ وی چه خوراک ته یې حاجت نوی او دا رنګ دنیوی تجارتونه نه کوی او دا رنګ نبی صلی الله علیه وسلم به په بازارونو کښې دَ دعوت دَ توحید دَ پاره ګرځیده او دا په مشرکانو باندے بوج وو نو اعتراض یې کولو . او په دویم باندے طلب دَ صفاتو دَ مالداری دے ځکه چه دَ جاهلانو په نیز سبب دَ عظمت مالداری ده . مَّسْحُوْرًا ، چه سحر پرے کړے شویوی یا مسحور په معنیٰ دَ ساحر دے یا معنیٰ هغه څوک چه محتاج وی خوراک څښکاک ته .
یا مسحور په معنیٰ دَ مجنون دے یعنی چه سحر دَ هغه دماغ خراب کړیدی او دا طعن دَ هغوی په اسے بشر باندے چه دَ ټول عالم هوښیار دے او بندهٔ صحیح بلیغ دے داعین ظلم دے .
ث . په دے کښې تعجیب دے پیغمبر ته او زجر دے منکر ینو ته او اشارهٔ ده چه دَ هغوی اعتراضونه کول په پیغمبر باندے سبب دَ دا سے ګمراهۍ دے چه امید تر ینه دَ هدایت نشته ، او دا سے په سورهٔ بنی اسرائیل ۴۸ کښې هم تیر شوے دی .

إِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ
که چرے اوغواړي دریه کړي تا لره غوره د دینه
جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
باغونه چه بهیږي یه لاندے د هغے نه ولے
وَيَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ﴿۱۰﴾ بَلْ كَذَّبُوْا
او دریه کړي تا لره بنګلے ۔ بلکه دروغژن ګنړي دوي
بِالسَّاعَةِ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ
قیامت لره او تیار کړیدے مونږ هغه چا لره چه دروغژن ګنړي

سلا خلاصه :۔ دَ دے آیت نه تر سئلا پورے دویم باب دے پدیکښ دوباره دعوی دَ تبارک ذکر ده او مراد تر ینه برکات اخرویه دي یعني دَ جهنم نه بچ کول او دَ جنت نعمتونه ورکول او بیا زجر دے منکرینو دَ قیامت ته او بیا تخویف او بشارت په شپږ طریقو سره دے بیا تخویف دے په براءت دَ آلهه دَ مشرکینو ۔ او جواب دَ بعضے اعتراضونو دے او زجر او تخویف تفصیلي، بیا تسلی ده نبي ته او زجر دے په اعتراض سره په قرآن باندے او دَ هغے جواب او بیا تخویف دے۔

تفسیر :۔ په دے سلا آیت کښ تسلی ده نبي ته او اشاره ده جواب دَ اعتراض دَ سـ۸ ته ۔

ذٰلِكَ ، کښ اشاره ده کنز او جنة ته چه دوي دَ هغے مطالبه کوله۔ جَنّٰتٍ الخ دَ دے مراد باغونه او بنګلے په آخرت کښ مراد دي او اِنْ په معنیٰ دَ اِذا دے ځکه چه دَ نبي دَ پاره دَ جنت نعمتونه ورکیدل یقیني دي یا مراد دَ دینه دَ دنیا باغات او بنګلے دي لیکن نبي صلی الله علیه وسلّم هغه ته دي خوښ کړي دَ دے وجے نه الله تعالیٰ نه دي ورکړي۔

بِالسَّاعَةِ سَعِيرًا ⑪ إِذَا رَأَتْهُم مِّن

قیامت اور بل کړېشوی۔ کله چه اوبینی اور دوی لره دَ

مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا

لرے ځایے نه آوری په دوی پسے لره غرمبیدل دَغضے دَوجے

وَزَفِيرًا ⑫ وَإِذَا أُلْقُوا مِنْهَا مَكَانًا

او هینږیدل۔ او کله چه اوغورځولے شی دوی دَهغے نه په تنګ

ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا هُنَالِكَ

ځایے کښں تړلی شوی غواړی به دغه وخت کښں

ثُبُورًا ⑬ لَّا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا

هلاکت لره۔ (او ویلے شی) مه غواړئ نن هلاکت

وَاحِدًا وَادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا ⑭

یو او غواړئ هلاکتونه ډیر۔

۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴۔ پدے آیاتونو کښں زجر دے په انکار کوونکو دَ
قیامت او تخویف دے په سعیر سره او شپږ احوال ئے ذکر کړے دی
۱ لیدل دَ لرے نه، ۲ تغیظ ۳ زفیر ۴ مکانِ ضیّق (تنګ کور)
۵ ثبور غوښتل ۶ ثبور کثیر۔
دَ دے دویم حال نه معلوم شوه چه جهنم له به الله تعالیٰ شعور او
احساس ورکړی تو لیدل به کوی، غصّه او غرمبار به کوی۔
مَكَانًا ضَيِّقًا۔ لکه سورة همزه کښں راځی نَارٌ مُّؤْصَدَةٌ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ۔
او دَ ابن کثیر په روایت کښں راځی دا سے تنګ ځایے کښں به واچولے
شی لکه چه میخ په یو دیوال کښں په زور او ټومبلے شی۔ ثُبُورًا، دا سے
لفظ دے چه دلالت کوی په هلاکت او خسران او تباهیٔ باندے
مراد دا دے چه جهنمیان به مرګ غواړی تو ورته به اوویلے شی چه
ډیر کړته مرګ به او غواړئ یعنی اسباب دَ مرګ ډیر راځی لیکن مرګ به
در باندے نه راځی۔

قُلْ أَذٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِيْ

او وايه ته آيا دا بنه شے دے او كه جنت دَ هميش والى هغه چه

وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً

وعده كړے شوېده دَ متقيانو سره ، وى به دوى لره بدله

وَّمَصِيْرًا ﴿۱۵﴾ لَهُمْ فِيْهَا مَا يَشَآءُوْنَ

او دَ ګرځيدلو ځائے - دوى لره به هغے كښ هغه نعمتونه دى چه غواړى ئے دوى

خٰلِدِيْنَ ؕ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا

هميشه ، ده ستا په رب باندے وعده

مَّسْـُٔوْلًا ﴿۱۶﴾ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا

غوښتلے شوے - او په كومه ورځ چه جمع به كړى دا مشركان او هغه څوك چه

يَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَقُوْلُ

دوى بندګى كوى دَ هغوى بِسوا دَ الله تعالىٰ نه نو وائى به

ءَاَنْتُمْ اَضْلَلْتُمْ عِبَادِيْ هٰٓؤُلَآءِ

آيا تاسو ګمراه كړے دى بندګان زما دغه (چه مشركان دى)

سـ۱۵ ، سـ۱۶ :- پدے آيا تونو كښ بشارت دے او ذكر دَ حال دَ جنت دے په شپږ احوالو سره -

عـ۱ جَنَّةُ الْخُلْدِ چه وعده كړے شوېده عـ۲ جزاء عـ۳ مَصِير عـ۴ دوى له به هر هغه وى چه دوى ئے غواړى ، عـ۵ خلود دَ اهل جنت عـ۶ وَعْدًا مَّسْـُٔوْلًا دَ دے مطلب دا دے چه متقيان دَ دے سوال كوى لكه په سورة العمران سـ۱۹۴ كښ تېر شوى دى -

دويم مراد دا دے چه مسئول په معنىٰ دَ واجب سره دے يعنى الله تعالىٰ خوامخواه پوره كوى پشان دَ واجب اګرچه په الله تعالىٰ باندے څه څيز نشى واجب كيدلے ليكن ديته واجب او حق تفضلى وائى -

أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ ﴿١٧﴾ قَالُوا سُبْحَانَكَ

یا دوی پخپله گمراه شویدی د لارے نه. دوی به وائی پاکی ده تا لره

مَا كَانَ يَنْبَغِي لَنَا أَنْ نَتَّخِذَ مِنْ

نه خائیږی موږ لره چه او نیسو موږ

دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاءَ وَلَٰكِنْ مَتَّعْتَهُمْ

سوا ستا نه مددګاران (معبودان) اولیکن مزے د دنیا ورکړے دی تا دوی ته

وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا الذِّكْرَ وَكَانُوا

او پلارانو د دوی ته تر دے پورے چه هیر کړو دوی توحید لره او وو

قَوْمًا بُورًا ﴿١٨﴾ فَقَدْ كَذَّبُوكُمْ بِمَا

قوم تباه کیدونکے. (او به وئیلے شی دوی ته) نو دروغژن تې کړئ تاسو په هغه

س۱۷ :- دا تخویف اخروی دے په طریقه د براءت د الهه باطله د عابدانو نه. او آیت کښ ملائک او انبیاء او صالحین مراد دی چه مشرکان د هغوی عبادتونه کول او برکات ورکوونکی ئې دے جاهلانو د هغوی بتان جوړ کړیدی او عبادت د بتانو د دوی عبادت ګنړی یا د صالحینو د قبرونو عبادتونه ئې کړیدی او دوی دعوے کوی چه موږ له دغه صالحینو دا حکم کړیدے چه موږ له عبادت کوئ موږ ستاسو ذمه وار یو نو په دوی باندے د الزام د پاره به په ورځ د قیامت د دغه صالحینو نه تپوس کیدیشی لکه د سورة مائده په آخر کښ تپوس کول د عیسیٰ علیه السلام نه هم پدے مقصد ئې ذکر کړے دی.

أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي، مراد د دیته گمراهئ نه رابلل دی ځکه گمراه کول دوی نشی کولے.

س۱۸ :- دا جواب دے په ترقئ سره او دلیل دے چه موږ گمراهئ ته دعوت نه دے ورکړے، ځکه چه موږ عقیده د توحید لرو ستا نه سوا بل څوک واکدار، اختیارمند، او حقدار د بندګئ نه ګڼړو. او مؤحد بل چاته دعوت د شرک نه ورکوی.

تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَّلَا

خبرو چه تاسو وئیلې نو طاقت نه لرئ تاسو د اړولو (د عذاب) او نه

نَصْرًا ۚ وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ

د مدد حاصلولو او چاچه ظلم کړیدې ستاسو نه او به څکوو مونږ هغه ته

عَذَابًا كَبِيرًا ⑲ وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ

عذاب لوی. او نه دی لیږلی مونږ ستا نه مخکښ

مِنَ الْمُرْسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ

پیغمبران مګر یقیناً هغوی به خوړل

الطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِي الْأَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا

خوراکونه او ګرځیدل به په بازارونو کښ، او ګرځولې مونږ

بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ۗ أَتَصْبِرُونَ ۚ

بعضې ستاسو د بعضو د پاره ازمیښت، آیا صبر کوئ تاسو

ع ۲ / ۱۱ / ۱۷ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ⑳

او دې ستا رب لیدونکې د هر څیز.

وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ، دا سبب د ګمراهۍ ذکر کوی یعنی سره د شرک کولو نه تا (اے الله تعالیٰ) د دوی او د دوی د مشرانو حاجتونه پوره کول او د دنیا فائدې دے ورکولے نو دوی خیال اوکړو چه شرک حق دین دے او توحید ئې هیر کړو نو د دے وجے نه تباه شول. الذِّكْرَ مراد د دینه توحید دے بُورًا، جمع د بائر ده په معنیٰ د هالک.

۱۹:- دا خطاب دے مشرکانو ته په ورځ د قیامت، مراد دا دے چه تاسو وئیلې وُچه دے بزرګ نو مونږ ته د شرک طرف ته دعوت راکړے د هغې نه خو دے بزرګانو کار اوکړو. صَرْفًا، اړول د عذاب د ځانونو نه. وَلَا نَصْرًا، مدد حاصلول د ځپلو معبودانو نه.

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ
او وائی هغه کسان چه عقیده نه لری دَ ملاقات زمونږ ولے نه نازلیږی
عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا ؕ لَقَدِ
په مونږ باندے ملائیک او نه وینو مونږ رب زمونږ، یقینًا
اسْتَكْبَرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيْرًا ﴿۲۱﴾
لوئی ورنوتے دہ دَ دوی په زړونو کښ او سرکشی کړیده دوی سرکشی لویه۔

وَمَنْ يَّظْلِمْ، دا هم په ورځ دَ قیامت کښ دے او یظلم مضارع په معنیٰ دَ ماضی سره دے یا دا قول دَ دنیا سره تعلق لری۔
ﺴﭫ:۔ روستو دَ ذکر دَ احوالو دَ قیامت نه دَ تخویف دَ پاره کلام ئے واپس اوګرځوو اعتراضاتو دَ منکرینو او دَ هغوی جوابونو ته نو دا جواب دَ اووم آیت دے یعنی خوراک کول او بازارونو کښ دَ ضرورت دنیوی یا دَ دعوت دینی دَ پاره ګرځیدل دَ رسالت سره هیڅ منافات نه لری۔ بیا دَ دے اعتراضونو وجه ئے ذکر کړه چه دا دُنیا دَ ابتلاګانو ځائے دے انبیاء رالیږل دَ جاهلانو دَ پاره امتحان دے چه هغوی پرے اعتراضونه کوی او جاهلان دَ انبیاؤ دَ پاره امتحان دے چه دوی په دَ هغوی په طعنونو او اعتراضونو باندے صبر کوی۔ دارنګ مالدار او فقیر دَ یو بل امتحان دے او جوړ شخص او مریض دَ یو بل امتحان دے۔
وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيْرًا، یعنی الله تعالیٰ پوهه دے هر چا لره دَ هغهٔ مناسب صفت ورکوی نو نبوت ئے هم مناسب اشخاصو ته ورکړے دے نو ولے په هغوی باندے اعتراضونه کوئ۔
ﺴﻟ:۔ دا هم زجر دے منکرینو ته دَ هغوی په اقوالو قبیحو او مطالباتو نامناسبو باندے او دا تفصیل دَ فتنے دے دَ جانب دَ منکرینو نه په اهل حق باندے۔او آیت کښ لف نشر مرتب دے یعنی دوی چه وائی په مونږ باندے دے ملائیک نازل شی (چه خبر راکړی دَ دے نبی په صدق باندے) دا دَ دوی استکبار دے او دوی چه وائی چه مونږ ولے رب نه وینو چه مونږ ته او وائی چه دا زمانبی حق دے دا عُتُو

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ لَا بُشْرٰى يَوْمَئِذٍ

په کومه ورځ چه دوی به اُوینی ملائیکو لره نو خوشحالی به نه وی په دغه ورځ

لِّلْمُجْرِمِيْنَ وَيَقُوْلُوْنَ حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۲۲﴾

مجرمانو لره او وائی به دوی پناهی غواړو پناهی کلکه۔

وَقَدِمْنَآ اِلٰى مَا عَمِلُوْا مِنْ عَمَلٍ

او قصد کړیدے مونږ هغه عمل ته چه دوی کړے وی

فَجَعَلْنٰهُ هَبَآءً مَّنْثُوْرًا ﴿۲۳﴾ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ

نو گرځولے دے مونږ هغه دوړه الوځولے شوے (تو ستلے شوے) جنت والا به

يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّاَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿۲۴﴾

په دغه ورځ غوره وی په ځائے د اوسیدلو کښ او ډیر ښائسته دی په لحاظ د آرام ګاه۔

(او لویه سرکشی ده) دا رنګ په سورة بنی اسرائیل ۹۲ کښ هم تیر شویدی.

۲۲:- دا جواب دے د اول سوال د دوی یعنی ملائیک به دوی ته نازل شی او دوی به وینی لیکن دوی لره به بشارت نه وی بلکه خبر به ورکوی د نا امیدئ او خسران او وائی به چه خوشحالی په تاسو باندی همیشه د پاره حرام (منع) ده۔ او دغه ورځ د زنګدان او ورځ د قیامت ده پدے معنیٰ سره۔

وَيَقُوْلُوْنَ ، ضمیر ملائیکو ته راجع دے۔ او دویمه معنیٰ دا ده چه کافران به ملائیکو ته وائی چه پناهی راکړے مونږ له د عذاب نه پوره پناهی لیکن پناهی به ورته نه ملاویږی وَيَقُوْلُوْنَ۔

۲۳:- دا جواب د سوال دے چه د دوی خو نیک عملونه هم شته د اولیاؤ سره ئے محبت کوؤ د هغوی خدمت ئے کوؤ خیراتونه وغیره ئے کول نو په دوی باندے خوشحالی ولے همیشه د پاره حرام شوه ؟

جواب او شو چه هغه عملونه د دوی د کفر او د شرک د وجے نه برباد دی لکه دوړه چه او نوستلے شی۔

۲۴:- دا بشارت دے مؤمنانو لره هغه کسان چه کافرانو به ورباندے اعتراضونه او طعنونه کول یعنی د دوی عملونه برباد نه دی۔

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ وَنُزِّلَ

او په کومه ورځ چه ټکړې به شي آسمانونه په وريځو سره او راکوزبه کړېشي

الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيْلًا ﴿٢٥﴾ اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذِ

ملائيک په راکوځولو سره - بادشاهي په دغه ورځ

ِالْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ؕ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى

حق ده د پاره د رحمٰن ذات او ده دا(ورځ) داسې ورځ چه په

الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ﴿٢٦﴾ وَيَوْمَ يَعَضُّ

کافرانو باندې سخته ده - او هغه ورځ چه چکوته به لګوي

الظَّالِمُ عَلٰى يَدَيْهِ يَقُوْلُ يٰلَيْتَنِي

ظالم په دواړه لاسونو باندې او وائي به هائے افسوس

مَقِيْلًا، په اصل کښ د غرمې د خوب ځائے ته وئيلے کيږي ليکن حديث صحيح کښ راغلي دي چه په جنت کښ خوب نشته نو مراد د مقيل نه صرف د آرام او د خوشحالۍ ځائے دے -

ف۲۵ :- د دے آيت نه تخويف اخروي دے په ذکر د اوو هيبتونو د ورځ د قيامت سره - اول چودل د آسمانونو په غمام سره مراد د غمام نه ظلل (سوري) دي د نور د الله تعالى او داسې سورة بقره ف۲۱۰ کښ هم ذکر دي يا مراد د غمام نه ډير جماعتونه د ملائيکو دي پشان د غمام په ښکارۍ - دويم راکوزيدل د ملائکو د پاره د انتظام د ميدان حشر -

ف۲۶ :- دريم هيبت دا دے چه بادشاهي او اختيار به صرف د رحمٰن وي نو هيڅوک به سفارش او هيڅ خبره بغير د اذن د رحمٰن نه نشي کولے - څلورم دا ورځ به په کافرانو ډيره سخته وي لکه سورة مدثر ف۹،۱۰ کښ به راځي -

اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا ﴿٢٧﴾

چه نیولے وے ما دَ رسول په تابعدارئ کښ لار ۔

يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا

هائے تباهي ده افسوس دے چه نه وے نیولے ما فلانکی لره

خَلِيلًا ﴿٢٨﴾ لَقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ الذِّكْرِ

دوست ۔ یقینًا اړولے دے دهٔ ما لره دَ قرآن نه

بَعْدَ إِذْ جَاءَنِي ۗ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِلْإِنسَانِ

روستو دَ دے نه چه راغے ما ته، او دے شیطان انسان لره

خَذُولًا ﴿٢٩﴾ وَقَالَ الرَّسُولُ يَا رَبِّ

شرموؤنکے ۔ او وائی رسول اے ربه زما

۲۷:- پنځم حال دا دے چه ظالم به خپلو لاسونو باندے دَ ډیرے غصے او دَ افسوس دَ وجے نه چکونه لګوی ۔ دا عملی ارمان دے دلته مراد دَ ظالم نه هغه دے چه دَ تابعدارئ دَ رسول نه ئے مخ ګرځولے دے په شرک او بدعاتو او ګناهونو کولو سره ۔ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي، دا شپږم حال دَ هیبت دے چه ظالم به دَ رسول په اتباع پسے قولی ارمان کوی ۔ په لاس باندے چک لګول ئے ځکه خاص کړل چه اکثر عملونه ئے په لاس باندے کړے دی ۔ دا رنګ دا عادت دے دَ هغه پښیمانه شخص چه پښیمانتیا ورته فائده نه ورکوی ۔

۲۸:- دا اووم هیبت دے چه دَ شیطانانو انسی او جنی په دوستانه کولو او خبره منلو او تابعدارئ کولو په افسوسونه او واویلا کوی ۔

فُلَانًا، نه مراد عام شیطانان دی که انسی وی او که جنی وی فُلَان ئے دَ دے وجے نه اُوئیل چه دَ هیبت دَ وجے نوم دَ هغهٔ ترینه هیر شوید ے یا دَ توهین او بے عزتئ دَ پاره ئے اُوئیل ۔

۲۹:- دا ذکر دَ سبب دَ ارمانونو دے چه شیطان انسی یا جنی دهٔ لره دَ قرآن کریم دَ اوریدلو او دَ هغے دَ تابعدارئ نه په مختلفو وسوسو سره

إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هَٰذَا الْقُرْآنَ

يقينًا زما قوم گرځولے دے دا قرآن

مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ

پريخودلے شوے۔ او دغسے گرځولے دے مونږ هر يو

نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ

نبي لره دشمن د مجرمانو نه ، او پوره دے

بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾ وَقَالَ

رب ستا هدايت کوونکے او مددگار ۔ او وائي

منع کړيوؤ۔ خَذُوْلًا، هغه دے چه وعدے کوی د مدد کولو او په وخت د ضرورت کښ غائب شي يا مخالف شي نو په اسے وخت کښ دغه انسان شرمنده شي۔

۳۰:۔ دا زجر دے مخالفينو د قرآن ته رچه د شيطان په وسوسے سره يې د قرآن نه خلاف کړيدے) په شکايت کولو د رسول د دوی نه الله تعالیٰ ته په دنيا کښ، او دا شهادت د رسول دے په انکار د دوی باندے او بل تفسير دا دے چه دا به په ورځ د قيامت کښ وی۔ او قَالَ په معنیٰ د يقول سره دے۔ مَهْجُوْرًا ، تفسير ابن کثير کښ ليکلی دی چه هجران د قرآن عام دے لکه د قرآن د بيان په وخت کښ شور شغب کول، پدے ايمان نه راوړل، پديکښ سوچ او فکر نه کول، پدے باندے عمل نه کول، د دے په بدل کښ نورو علمونو او کتابونو ته توجه کول، د دے نه خلق منع کول دا ټول په هجران د قرآن کښ داخل دی۔ هرکله چه دا قسم هجران د نبي صلی الله عليه وسلم په ژوند کښ قريشو او عربو کړے وؤ نو ځکه د قوم تخصيص يې اوکړو۔

۳۱:۔ هرکله چه د نبي خفگان يې د قوم نه ذکر کړو او س پدے آيت کښ هغه له تسلی ورکوی چه دا سے خو د هر نبي سره خلقو دشمنی کړيده نو هغوی صبر کړيوؤ ته هم صبر کوه ۔ ځکه چه هدايت د الله تعالیٰ په اختيار کښ دے او د دشمنانو نه بچ کول هم د الله تعالیٰ په اختيار کښ دی

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ

هغه کسان چه کفر ئې کړیدے ولے نشي نازلیدلے پدۀ باندے قرآن

جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ

په یو ځل دغسے (نازل کړیدے مونږ) دپاره دَدے چه کلک کړو پدے سره

فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَاْتُوْنَكَ

زړۀ ستا او وضاحت کړیدے مونږ دَدے په پوره وضاحت سره. او نه راوړی دوی تا ته

بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ

هیڅ اعتراض مګر راوړو مونږ تا لره جواب او ښائسته

تَفْسِيْرًا ﴿٣٣﴾ اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ

بیان. هغه کسان چه جمع به کړیشي دوی په مخونو خپلو باندے

اِلٰى جَهَنَّمَ ۙ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿٣٤﴾ ع ٣

جهنم ته دغه کسان ناکاره ځائے والا دی او ورکوونکی دی لار دَ جنت لره.

او دا مطلب دے په وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيْرًا کښ.

٣٢، ٣٣:. دا زجر دے منکرینو دَ قرآن ته او دَ هغوی دَ اعتراض درے جوابونه ئې ذکر کړے دی. اول دا چه لږ لږ نازلیدلو کښ دَ زړه تثبت ورکول مقصد دے یعنی کله چه به دَ منکرینو دَ طرف نه څۀ تکلیف نبی صلی الله علیه وسلم ته اورسیدلو نو الله تعالیٰ به آیت دَ هغه دَ تسلّی دپاره نازل کړو. دویم جواب چه په لږ لږ نازلیدلو کښ ترتیل مقصد دے یعنی الفاظ واضح لوستلے کیږی او معانی هم په وضاحت سره بیان شی. دریم جواب دا دے چه هر کله دوی څه اعتراض کوی نو الله تعالیٰ دَ هغے حق جواب رالیږی او ښائسته تفسیر ئې کوی.

٣٤:. دا تخویف شدید دے منکرینو دَ قرآن ته په ذکر دَ درے حالاتو اول حشر دَ دوی په مخونو باندے لکه سورۃ بنی اسرائیل ٩٧ کښ تیر شویدی. دویم شَرٌّ مَّكَانًا چه جهنم دے. دریم اَضَلُّ سَبِيْلًا دا په دنیا کښ دے

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا

او یقیناً ورکړی دی موږ موسیٰ علیه السلام ته کتاب او وګرځولی دی موږ

مَعَهٗٓ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا

د هغه سره ورور د هغه هارون علیه السلام ملګری ۔ او وئیل موږ

اذْهَبَآ اِلَى الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

لاړ شئ دواړه هغه قوم ته هغه چه دروغژن کړی دی

بِاٰيٰتِنَا ؕ فَدَمَّرْنٰهُمْ تَدْمِيْرًا ﴿٣٦﴾

آیاتونه زموږ، پس هلاک کړل موږ دوی لره په هلاکولو ۔

وَقَوْمَ نُوْحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ

او (هلاک کړه موږ) قوم د نوح علیه السلام هرکله چه دوی دروغژن کړل رسولان

یا مراد دا چه د لارے نه د ګمراهئ او بربادئ علم دوی ته په قیامت په حاصل شی ۔

۳۵ :- خلاصه :- د دے آیت نه ترنمبر ۴۰ پورے دریم باب دے په دے کښ شپږ دلیلونه نقلیه دی او دا نمونے د عذاب دی ۔ د پاره د تخویف او نمونے د برکاتو دی چه هغه هلاکول د دشمنانو د حق دی دا هم برکات دی ۔ او زجرونه دی شپږ ، او شپږ عقلی دلیلونه دی او تسلی او تشجیع د نبی صلی الله علیه وسلم ته په شپږ آدابو سره ۔

تفسیر :- ۳۵ ، ۳۶ :- په دے کښ دلیل نقلی دے د موسیٰ او هارون علیهما السلام نه ، مقصد دا دے چه دوی له الله تعالیٰ څلور قسمه برکات ورکړی وو ۱ کتاب ۲ وزیر ۳ مکن بیبتو ته په رسالت سره لیږل ۴ او مدد کول د دوی په تباه کولو د فرعونیانو سره دوی ئے مخکښ ذکر کړل ځکه چه د دوی قوم (بنی اسرائیل) په وخت د نزول قرآن کښ موجود وو ۔

أَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ط

غرق کړل موږ دوی او وګرځول موږ دوی خلقو لره نخښه ،

وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۳۷﴾ ج صلے

او تیار کړیدے موږ ظالمانو لره عذاب درد ناک ۔

وَّعَادًا وَّثَمُوْدَاۡ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ

او هلاک کړه موږ عادیان او ثمودیان او کوهی والا

وَقُرُوْنًاۢ بَيْنَ ذٰلِكَ كَثِيْرًا ﴿۳۸﴾ وَكُلًّا

او پیړۍ په مینځ د دے کښې ډیرے ۔ او هر یو ته

ضَرَبْنَا لَهُ الْاَمْثَالَ ز وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيْرًا ﴿۳۹﴾

بیان کړیدی موږ وعظونه او هر یو تباه کړل موږ په تباهۍ سره ۔

۳۷ :۔ په یکښې دلیل نقلی دے د نوح علیه السلام ته یعنی الله تعالی هغهٔ لره برکات ورکړو چه د هغهٔ مخالفین ئے تباه او غرق کړل او د روستو خلقو د پاره ئے عبرت وګرځوؤ او قیامت کښې هم دوی لره تیار عذاب دے دا هم برکات دی چه په مخالفت کوؤنکو باندے نا کاره عذاب راځي ۔

لِلنَّاسِ لفظ الناس د دے وجے نه ذکر کړو چه دا قوم د نورو ټولو قومونو نه مخکښې تیر شوے دے نو د روستو ټولو انسانانو د پاره نمونه ده ۔

۳۸، ۳۹ :۔ په یکښې درے قومونه د مکے بینوئے ذکر کړے دی او دوی ته وعظ او نصیحت بیانول او د دوی هلاکت ئے ذکر کړیدے ۔

اَصْحٰبَ الرَّسِّ ، کښې اختلاف دے رَسّ کچه کوهی ته وئیلے کیږی ۔ یو قول دا دے چه دا هغه قوم دے چه صاحب یاسین ئے کوهی ته غورځولے وؤ ۔ دویم دا چه دا قوم د شعیب علیه السلام وؤ چه په کوهی باندے جمع کیدل ۔ دریم قول دا دے چه دوی اصحاب الاخدود دی ۔ اول قول ډیر مشهور دے ۔

وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِىْٓ اُمْطِرَتْ

او یقینًا تې راغلي دوی په هغه کلي باندې چه باران کړے شوے وؤ

مَطَرَ السَّوْءِ ۭ اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ

په هغوی باندې باران ناکاره، آیا نو نه وؤ دوی چه لیدلے وے دوی هغې کلي لره

بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿٤٠﴾

بلکه دوی عقیده نه لري د دوباره ژوندن.

وَاِذَا رَاَوْكَ اِنْ يَّتَّخِذُوْنَكَ اِلَّا هُزُوًا ۭ

او کله چه اوینې دوی تالره نه نیسي تالره مګر ټوقې،

اَهٰذَا الَّذِيْ بَعَثَ اللّٰهُ رَسُوْلًا ﴿٤١﴾

(وائي) آیا دا هغه کس دے چه رالیږلے دے الله تعالی رسول.

اِنْ كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا لَوْلَآ

یقینًا نږدے وؤ دے چه اړولے وے موږ لره د معبودانو زمونږ نه که چرې نه وے

اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۭ وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ

ټینګ شوے موږ په هغې باندې، او زر دے چه دوی په پوهه شي

٤٠:- په دې کښې دلیل نقلي دے د هلاکت د قوم لوط علیه السلام او زجر دے مشرکین عرب ته چه دوی په وخت د سفر کولو د شام کښې په کنډراتو د قوم لوط باندې ورتیریدل دا سے په سورة حجر ٧٩ او سورة صافات ١٣٧، ١٣٨ کښې هم دي.

بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا. په دې کښې اشاره ده چه دوی عبرت ځکه نه اخلي چه دوی عقیده د دوباره ژوند نه لري.

٤١:- دا زجر دے په انکار کولو د رسول نه او په هغه پورې استهزاء کول.

حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ

کله چه دوی اُوینی عذاب لره چه کوم یو زیات بے

سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾ اَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ

لارے دے۔ آیا خبر یې ته دهغه چا په حال باندے چه نیولے یې دے معبود خپل

هَوٰىهُ ط اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا ﴿۴۳﴾

خواهش خپل لره، آیا پس یې ته په هغه باندے ذمه وار۔

ف۴۲:- دا هم زجر دے سره د تخویف نه۔ او دا ذکر د استهزاء دے په رسول پورے اِنْ دا مخفف عن المثقل دے یعنی اِنَّهٗ۔

لَيُضِلُّنَا عَنْ اٰلِهَتِنَا، اشاره ده چه د دوی په نیز توحید ته دعوت ورکول گمراه کول دی یعنی دوی نسبت د گمراهۍ رسول صلی الله علیه وسلم ته کوۍ او په شرک باندے کلک پاتے کیدل یې دین گنړلو لیکن په وخت د عذاب راتللو کښ گمراهان معلو میږی۔

ف۴۳:- دا زجر دے په اتباع د هوا سره او تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته

اِلٰهَهٗ هَوَاهُ، یعنی معبودان جوړوی د خپل خواهش موافق یعنی د چا د زړه او نفس تعلق چه د یو قبروالا سره پیدا شی نو د هغه عبادت شروع کړی د چا د نفس تعلق چه د یو ړوندی پیر فقیر سره پیدا شی د چا د ونے او د بت وغیره سره نو د هغے نه معبود جوړ کړی او دلیل شرعی د هیڅ چا په معبودیت باندے سوا د الله تعالی نه نشته۔ پدے معنیٰ سره اِلٰهَه مفعول اول او هَوٰىهُ مفعول دویم دے۔ دویمه معنیٰ دا ده چه د خپل خواهش طاعت داسے کوی چه طاعت د الله تعالی او د رسول پرے پریږدی یعنی شرک فی الطاعت کوی لکه دهریان، بدعتیان، فاسق، فاجر هر یو (په تفاوت سره) د خواهشاتو طاعت کوی۔ نو دوی د هَوٰىهُ نه اله جوړ کړیدے پدے معنیٰ سره مفعول دویم مخکښ دے په اول باندے او دا رنگ په سورة جاثیه ۲۳ کښ دی۔

اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا، یعنی تا باندے د دوی د هدایت ذمه واری نشته او نه ته د دوی ذمه وار یې۔

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ

آیا گمان کوے ته چه یقینًا ډیر دَ دوی آوری

أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ

یا پوهیږی، نه دی دوی مګر پشان دَ څارووُ

بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ أَلَمْ تَرَ

بلکه دوی ډیر بے لارے دی. آیا نه ګورے

إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ ۚ وَلَوْ شَاءَ

رب خپل ته چه څه رنګه غوړولے دے سورے او که چرے غوښتے الله تعالیٰ

لَجَعَلَهُ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ

نو ګرځولے به یې دا ولاړ ثابت بیا ګرځولے دے موږ نمر

رکوع ۴ ع ۲

۴۴۔ دا هم زجر دے منکرینو ته او تسلی ده پیغمبر ته یعنی دا منکرین حق خبره نه قبلوی او نه په هغے کښ سوچ کوی نو دَ دوی حال پشان دَ څارووُ دے چه غوګونه او زړونه یې شته لیکن په هغے سره دَ اوریدلو او دَ قبلولو او تمیز دَ حق باطل نشی کولے او دا رنګ خوراک څښاک کوی لیکن دَ آخرت هیڅ فکر ورسره نشته دے۔

أَضَلُّ سَبِيلًا، یعنی دوی زیات ناپوهه دی ځکه چه څاروی اګرچه توحید او رسالت نه پیژنی لیکن هغے ته باطل هم نه وائی۔ او دا رنګ څاروی خپل مالک پیژنی او دَ هغه تابعداری کوی او دا مشرکان دَ خپل مالک نه هم زیات ناخبره او باغیان دی۔ او أَكْثَرَهُمْ یې ځکه او فرمائیل چه بعض ایمان راوړی دا سے په سورة اعراف ۱۷۹ کښ تیر شوی دی

عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَيْنَا

په هغې باندې دلیل. بیا رانغاړو موږ هغه ځان خپل ته (په حکم سره)

قَبْضًا يَّسِيْرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ

په دمه رانغښتلو. او خاص الله تعالی هغه ذات دی چه ګرځولې ده

لَكُمُ الَّيْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا

ستاسو د پاره شپه جامه او خوب آرام

وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ

او ګرځولې ده ورځ د پاره د خوریدلو. او خاص الله تعالی هغه ذات دی

۴۵، ۴۶:- د دینه عقلی دلیلونه په دعوی د تبارک باندې ذکر کوی، په هر یو دلیل کښې دوه دوه څیزونه (یعنی تصرفات د الله تعالی) ئې ذکر کړې دی او په هر دلیل کښې د اشیا د منافع او فائدې (برکات) ئې ذکر کړې دی. پدې آیت کښې سورې او نمر ئې ذکر کړې دی او په دواړو کښې تصرف الهی ئې ذکر کړیدې.

مَدَّ الظِّلَّ، د دې نه مراد د صبا د راختلو نه د نمر ختلو پورې وخت دې ظِلّ سورې د ماسپخین نه وړاندې او فی سورې د ماسپخین نه روستو ته وئیلې کیږی.

لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا، یعنی نمر به ئې نه راخیژولې نو سورې به همیشه وې لیکن نمر راخیژول دلیل دې په پیژندلو د سوری باندې یعنی که نمر نه وې نو هیڅوک به سورې نه پیژندلو او د دینه مشهور مثل ثابتیږی چه څیز په ضد سره معلومیږی. بیا چه نمر خوم ره راوچتیږی نو سورې په دمه دمه کمیږی دیته قبض یسیر وائی دا هم په اختیار د الله تعالی کښې دې.

لَيْلًا، مذکر ئې ځکه راوړو چه د شمس نه مراد طلوع د نمر ده.

۴۷:- دا بل دلیل عقلی دې پدیکښې شپه او په هغې کښې خوب، او ورځ ئې ذکر کړیده او د هغې فائدې ئې ذکر کړې دی. سُبَاتًا، سبت په اصل کښې پریکولو او خالی کولو ته وئیلې شی نو خوب هم په هغه وخت نعمت دې چه په مشاغلو کښې بنده ستړې شی او هغه پریږدی او آرام کوی. نُشُوْرًا مراد د دینه وخت د نشور دې

أَرْسَلَ الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ يَدَيْ

چه رالیږي هواګانې زیرے مخکښې دَ

رَحْمَتِهٖ ۚ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً طَهُوْرًا ﴿٤٨﴾

رحمت دَ هغه نه او را ورولے دی موږ دَ آسمان نه اوبه پاکوونکے۔

لِّنُحْیِۦَ بِهٖ بَلْدَةً مَّیْتًا وَّنُسْقِیَهٗ مِمَّا

دَ دے دَ پاره چه تازه کړو په هغې سره زمکه اوچه او وڅکوو دا اوبه دَ هغه چا نه

خَلَقْنَاۤ اَنْعَامًا وَّاَنَاسِیَّ كَثِیْرًا ﴿٤٩﴾

چه موږ پیدا کړی دی څاروی او انسانان ډیر۔

ف٤٨ :- دا هم دلیل عقلی دے او دَ هواګانو او باران ذکر یې کړے دے او دَ هغې اثار یې هم ذکر کړے دی۔ او طَهُوْرًا هغه دی چه پاک وی او بل څیز لره پاکوی او دا دلیل دے چه اصل په اوبو دَ باران کښې طهوریت دے نجاست پکښې عارضی راځی۔ او ابن کثیر وئیلے دی چه طهور په معنیٰ دَ الی دَ طهارت سره دے صیغه دَ مبالغې نه ده۔

ف٤٩ :- په دے کښې دَ باران دوه فائدے یې ذکر کړے دی۔

كَثِیْرًا سوال دا دے چه انعام او انسانان ټول اوبو څکلو ته محتاج دی نو کثیرا یې ولے اوفرمائیل؟

اول جواب دا دے چه اصل عبارت دا دے كَثِیْرًا مِمَّا خَلَقْنَاۤ او اَنْعَامًا وَّاَنَاسِیَّ بدل دے دَ کثیرا نه۔

دویم جواب دا دے چه بعض انسانان دَ سمندر اوبه صفا کوی او دَ څکلو دَ پاره استعمالوی او هغه لږ خلق دی او ډیر خلق خو دَ باران اوبه څکی۔

كَثِیْرًا دا لفظ کښې مفرد دے او په معنیٰ کښې جمع ده ځکه یې صفت دَ جمع دَ پاره ذکر کړو۔

وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوْا ۖ

او یقیناً گرځولے دی مونږ دا اوبه په مینځ دَ دوی کښ دے دَپاره چه نصیحت واخلی

فَاَبٰۤى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ﴿٥٠﴾

نو نه کوی ډیر خلق مگر ناشکری۔

وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِىْ كُلِّ قَرْيَةٍ

او که چرے غوختلے مونږ خامخا لیږلے به وے مونږ په هر کلی کښ

نَّذِيْرًا ۖ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ

ویره ورکوونکے۔ پس خبره مه منه دَ کافرانو

نـ۵۰:۔ دا هم متعلق دے دَ تیرشوی آیت سره او ۂ ضمیر راجع دے مَآءً (اوبو) ته یعنی اوبه دَ باران په قسم قسم طریقے سره گرځوؤ په بعضے زمکه باران اوشی او په بعضے باندے او نشی په بعضے باندے لږ باران اوشی او په بعضے باندے ډیر اوشی۔ یا مراد دا دے چه دا اوبه دَ باران په مختلفو ملکونو کښ دَ خوړونو او سیندونو او چینو په طریقه سره گرځوؤ چه خلق ئے وینی او دَ الله تعالیٰ قدرت او توحید پرے پادوی۔

فَاَبٰۤى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا یعنی دَ باران دَ وریدلو نه روستو ناشکری کوی څوک وائی دا باران په مونږ باندے فلانی ستوری او وروؤ څوک وائی دا دَ فلانی موسم باران دے او دَ الله تعالیٰ دَ قدرت تاثیر پکښ نه گنړی۔ په آیت کښ دویمه توجیه داده چه ضمیر دَ صَرَّفْنٰهُ راجع دے قرآن ته او دَ سورة بنی اسرائیل دَ ۴۱، ۸۹ پشان دے او زجر دے په انکار دَ قرآن سره۔ او دا په مینځ کښ جمله معترضه ده۔

۵۱:۔ په مینځ دَ دلیلونو کښ تسلی او تشجیع ورکوی نبی صلی الله علیه وسلم ته حاصل دا دے که الله تعالیٰ اراده کړے وے نو په هر کلی او ښار کښ به ئے جدا جدا نبی لیږلے وے لکه چه باران ئے جدا جدا زمکو او کلو کښ تقسیم کړے دے یعنی دَ رسول مثال پشان دَ باران دے

وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا ۝٥٢ وَهُوَ

او جهاد کوه د دوی سره په دے قرآن سره جهاد لوے۔ او خاص الله تعالیٰ

الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ

هغه ذات دے چه یو ځاے روان کړیدی دوه دریابونه دا یو خوږ دے

فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ

ماتوونکے د تندے او دا بل مالګین دے مرچکین انختونکے او پیدا کړیده

بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ۝٥٣

په مینځ د دے دواړو کښ پرده او مانع (ربندی) پوخ۔

لکه چه مخکښ زمانه کښ داسے وو چه هر کلی ته جدا جدا نبی رالیږلے وو۔ لیکن الله تعالیٰ ته د ټول عالم رسول رااولیږلے دا دلیل دے زمونږ د نبی په ختم نبوت باندے۔

۵۲:۔ په دے آیت کښ تشجیع ورکوی او طریقه د دعوت ښائی نبی صلی الله علیه وسلم ته یعنی دا کافران تا لره شرک کولو ته رابلی یا کتمان د حق ته نو د دوی خبره او نه منے او جهاد بالقرآن دا دے چه د قرآن د تبلیغ د پاره ډیر کړاؤ اوکړه او ټول قوتونه دیته صرف کړه چه سستی پکښ او نشی۔ او دیته جهاد کبیر وئیلے شی۔

فَلَا تُطِعِ ، د دے نه مخکښ کلام پټ دے یعنی اِكْتَفَيْنَا بِكَ یعنی مونږ په روستو زمانه کښ ستا په رسالت باندے اکتفاء اوکړله نو د دے وجے نه ذمه داری په محنت سره ادا کړه۔

۵۳:۔ دا بل دلیل عقلی دے او داسے په سورة فاطر ۱۲ کښ شته دے او په دیکښ دوه قسمه اوبه ذکر کړے دی د خوږ دریاب نه او به د نهرونو خوږو تو سیندونو مراد دی چه سمندر ته غورزیږی لیکن یو بل سره نه ګډیږی۔ مَرَجَ ، په معنیٰ د یو ځاے والی سره دے یعنی یو ځاے چلول لیکن په بغیر د ګډون نه۔ بَرْزَخٌ پرده ده چه منع کوی د غالب کیدلو د یو ته په بل باندے چه د خوږ نه تریخ جوړ شی او د تریخ نه خوږ جوړ شی۔

وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ مِنَ الْمَآءِ بَشَرًا

او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړے یے دَ اوبو (نطفې) نه بنده

فَجَعَلَهٗ نَسَبًا وَّصِهْرًا ؕ وَكَانَ رَبُّكَ

بیا یے کړخولے دے نسب والا او سخرګنۍ والا، او ستا رب دے

قَدِیْرًا ﴿۵۴﴾ وَیَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

قدرت والا۔ او بندګی کوی دوی سوا دَ الله تعالیٰ نه

مَا لَا یَنْفَعُهُمْ وَلَا یَضُرُّهُمْ ؕ وَكَانَ

دَ هغه چا چه نه نفع ورکولے شی دوی ته او نه نقصان ورکولے شی دوی ته، او دے

الْكَافِرُ عَلٰی رَبِّهٖ ظَهِیْرًا ﴿۵۵﴾ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ

کافر خپل رب ته شا کړځوونکے۔ او نه یے لیږلے مونږ ته

حِجْرًا مَّحْجُوْرًا ، مانع دے دَ اختلاط او دَ ګډون نه لیکن دا پرده محسوسه نه ده او دا سے په سورة رحمٰن ۲۰ کښ شته۔

۵۴ :- دا بل دلیل عقلی دے لکه چه په عامو اوبو کښ دوه فائدے ذکر کړے تو دا رنګ په خاص اوبو (نطفه) کښ هم دوه فائدے ذکر کوی او دا دَ قدرت الٰهیه خاص نمونے دی۔ او په دیکښ دَ پیدائش نه روستو دوه انعامات ذکر کړیدی په پیدائش سره نسب جوړیږی او بیا په نکاح کولو سره مصاهرت (سخرګنۍ) جوړیږی۔ او دا دواړه دَ انسان دَ حفاظت او دَ انسانیت دَ بقاء دَ پاره اسباب دی۔

۵۵ :- په مینځ دَ دلیلونو کښ زورنه ورکوی په شرک فی العبادة باندے۔

عَلٰی رَبِّهٖ ظَهِیْرًا ، معنیٰ دا چه دَ الله تعالیٰ دَ توحید په مقابله کښ او دَ حزب الله په مقابله کښ دَ شیطان ملګرتیا کوی دَ شرک دَ غالب کولو او دَ اشاعت کولو کوشش کوی۔ یا ظَهِیْرًا په معنیٰ دَ سپک او ذلیل دے۔

إِلَّا مُبَشِّرًا وَّنَذِيرًا ﴿٥٦﴾ قُلْ مَآ أَسْـَٔلُكُمْ

مگر زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے۔ ته اووایه نه غواړم ستاسو نه

عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ

په دے بلنی باندے هیڅ بدله مگر څوک چه غواړی چه اونیسی

إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى ٱلْحَيِّ

خپل رب ته لار۔ او ځان اوسپاره په هغه ژوندی

ٱلَّذِى لَا يَمُوتُ وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِۦ ۚ

ذات باندے چه مرګ پرے نه راځی او پاکی وایه سره د ستائینے د هغه نه،

وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾

او بوره دے الله تعالیٰ په ګناهونو د بندګانو خپلو باندے خبر لرونکے۔

۵۶:- په دے آیت کښ ئے تسلی او صدق د رسول ذکر کړے دی مطلب دا چه د شرک فی العبادة د مقابلے دپاره دا رسول رالیږلے شوے دے۔

۵۷:- په دیکښ ادب ذکر کړے دے د رسول دپاره یعنی دعوت په اخلاص سره پکار دے۔ اِلَّا استثناء منقطع ده او جزاء د مَنْ پټه ده یعنی فَلْيَتَّبِعْنِىْ پس زما تابعداری دِ اوکړی۔ یا اِلَّا استثناء متصل ده یعنی زه غواړم اجر د تابعدارئ د هغه چا چه زما په دعوت سره ایمان راوړی ځکه چه دعوت کوونکی ته اجر ملاویږی په مقدار د هغه چا سره چه د ده دعوت قبول کړی۔ لیکن اول توجیه غوره ده په دویمه باندے اشکال دے یعنی اَسْـَٔلُكُمْ سره مناسبت نه لری۔

۵۸:- دا بل ادب دے یعنی په اخلاص پسے توکل ضروری دے۔ اَلْحَيِّ الَّذِىْ لَا يَمُوْتُ، یعنی دا حیات د نوع حیات د مخلوق نه نهٔ دے ځکه د مخلوق د حیات په مقابله کښ موت ضروروی۔

وَسَبِّحْ بِحَمْدِهٖ سره بل ادب دے۔ تَوَكَّلْ دیته وائی چه په وخت د استعمال د اسبابو شرعیو کښ عقیده د تاثیر کولو په الله تعالیٰ باندے لری

الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

هغه ذات دے چه پیدا کړې دی آسمانونه او زمکه

وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ

او هغه چه د دے دواړو په مینځ کښ دی په انداز د شپږو ورځو کښ بیا

اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ ۚ اَلرَّحْمٰنُ

برابر شو د عرش د پاسه رحمٰن ذات دے

فَسْئَلْ بِهٖ خَبِیْرًا ﴿۵۹﴾ وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ

نو تپوس کوه د هغه په باره کښ د خبر لرونکی نه۔ او کله چه دوی ته اُوئیلے شی

او وجه ئے دا ده چه اسباب فنا کیږی او الله تعالیٰ باندے فنا نه راځی۔ بِذُنُوْبِ عِبَادِهٖ، یعنی که مخالفین شرک او کفر کوی او تا ته کنځل کوی او په تا باندے طعنونه وائی نو الله تعالیٰ ترینه خبر دے سزا به ورکوی ته ئے پرواه مکوه۔ اول بِهٖ صله د کفٰی ده د تاکید د فاعل د پاره راځی او بِذُنُوْبِ متعلق دے په خبیرا پورے۔

۵۹:۔ دا بل دلیل عقلی دے دوه فعلی صفتونه د الله تعالیٰ ئے ذکر کړیدی خَلَقَ او اِسْتَوٰی او دوه ذاتی صفتونه رحمان او خبیر۔ هر کله چه په دے سورت کښ مسئله د برکاتو باندے بحث دے او د هغے سره صفت د رحمانیت مناسب دے ریعنی دا ټول انعامات او برکات ورکوونکے رحمان دے نو د دے وجے نه لفظ رحمان ئے ذکر کړو۔ او معنیٰ د اِسْتَوٰی ښکاره ده او کیفیت ئے مجهول دے هیڅ تاویل او تمثیل پکښ جائز نه دے دا قول د ټولو سلفو صالحینو دے۔

فَاسْئَلْ بِهٖ خَبِیْرًا، د دے یو توجیه دا ده، سوال کوه په وسیله د اسم د رحمان او خبیرا ئے حال دے۔ دویمه دا چه بِهٖ کښ با زیاتی ده معنیٰ دا چه سوال کوه د الله تعالیٰ نه چه خبردار دے۔ دریمه توجیه دا چه به په معنیٰ د عنه دے او خَبِیْرًا نه مراد هغه څوک دے چه عالم وی په اسماؤ او صفاتو د الله تعالیٰ یعنی د الله تعالیٰ د توحید او معرفت په باره

اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ ق

سجده اوکړئ رحمان ذات ته دوی وائی اوڅه دے رحمٰن ،

اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿٦٠﴾

آیا سجده اوکړو هغه چا ته چه ته مونږ ته حکم راکوے او زیاتی کوے دوی لره نفرت۔

تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا

برکتونو والا دے هغه ذات چه پیدا کړی دی په طرف د آسمانونو کښ منزلونه (دغټو ستورو)

وَّجَعَلَ فِیْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِیْرًا ﴿٦١﴾

او پیدا کړیدے په هغے کښ نمر بلیدونکے او سپوږمۍ رڼا کوونکے۔

کښ د هغه عالم ته تپوس کوه چه په اسماؤ او صفاتو د الله تعالیٰ باندے علم لری او دغه عالم مراد دے په اِنَّمَا یَخْشَی اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا کښ۔
سلا:- دا زجر دے په انکارکولو د رحمان او د سجدے نه رحمٰن ته د توحید په طریقے سره دوی انکار کوؤ۔ د دے مراد دا نه دے چه دوی د الله تعالیٰ صفت رحمان نه منلو۔ ځکه د دوی په اشعارو د جاهلیت کښ رحمان په صفت د الله تعالیٰ کښ ذکر دے لکه چه ابن کثیر وئیلے دی بلکه مراد د دوی دا وؤ چه کوم رحمان ته سجده اوکړو ځکه چه دوی رحمان مسیلمة الکذاب ته هم وئیلو دا انکار عنادی وؤ۔
سلا خلاصه د دے آیت نه تر آخر د سورت پورے څلورم باب دے پدیکښ دعوی د سورت ده په دریم کرت او دوه عقلی دلیلونه دی بیا پنځلس صفات دی د صالحینو او هغوی له بشارت دے او اختتام دے په زجر او تخویف دنیوی سره۔
تفسیر:- پدے آیت کښ مراد د برکاتو نه روحانی برکات دی۔ یعنی هغه صفات چه الله تعالیٰ ئے صالحینو بندګانو ته ورکوی۔ او دا دلیل عقلی دے۔ بُرُوْجًا، غټ ستورو ته وائی یا مراد ترے مورچے د څوکیدار ملائیکو دی یا منزلونه د ښکاره کیدلو او پدیکښ چه ر بروج او شمس او قمر ئے ذکر کړیدے) لطیفه اشاره ده تقسیم ته په صالحینو کښ درے قسمه کامل تیکان

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ

او خاص الله تعالىٰ هغه ذات دے چه جوړه کړيدۀ شپه او ورځ

خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ

دَ يو بل نائب هغه چا لره چه اوغواړي چه نصيحت واخلي او غواړي

شُكُورًا ﴿٦٢﴾ وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ

شکر کول۔ او خاص بندګان دَ رحمان هغه خلق دي

يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا

چه ګرځي په زمکه بانديے په نرمۍ او هر کله چه

خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا ﴿٦٣﴾

خبرے کوي دَ دوي سره جاهلان نو دوي ورته وائي دَ سلامتيا خبره۔

درميانه بندګان عام مؤمنان او دا ټول دېکښې رنړا او زينت دے۔

۶۲ :- دا آخري عقلي دليل دے۔ خِلْفَةً نه مراد دا دے چه شپه او ورځ په يو بل پسے ندرزراځي اويله معنیٰ دا ده چه دَ يو بل خليفه او نائب دي۔ حديث صحيح کښې راغلي دي چه دَ چا نه ورد (عبادت) دَ ورځے پاتے شي نو دَ شپے دے اوکړي او چا نه چه ورد دَ شپے فوت شي نو دَ ورځے دے اوکړي دَ دے معنیٰ په مناسبت سره لِّمَنْ أَرَادَ أَنْ يَذَّكَّرَ ئے ذکر کړيدے۔ يَذَّكَّرَ نه مراد هغه څوک دے چه دَ شپے او دَ ورځے دَ حالاتو نه دليل اونيسي په توحيد دَ الله تعالىٰ بانديے أَوْ أَرَادَ شُكُورًا دَ دے نه مراد طاعت دَ الله تعالىٰ دے پس دَ عقيدے دَ توحيد نه۔

۶۳ :- دَ دے نه پنځلس اوصاف دَ توحيد والو ذکر کوي يعني موحدينو بانديے لازم دي چه په ځان کښې دا سے صفتونه پيدا کړي۔ او هر کله چه تير شوي آيت کښې ذاکرين او شاکرين ئے ذکر کړل نو اوس پدے آيا تو کښې دَ هغه ذکر او شکر طريقے ذکر کوي او دغه پنځلس صفات دي۔ پدے آيت کښې ئے درے صفات ذکر کړے دي۔

۱- عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ يعني الله تعالىٰ رحمان (او برکت ورکوونکے) ګڼړي

وَالَّذِيْنَ يَبِيْتُوْنَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا

اودا هغه خلق دي چه شپه روټره وي د پاره د رب خپل سجده كوونكي

او هغه لره بندګي خاص كوي په خلاف د هغه كسانو چه د سجدے د رحمان نه انكار او نفرت كوي. په دے كښ اشاره شوه چه ټولو صفتونو نه ړومبے توحيد دے. او په لفظ عباد الرحمٰن سره اشاره ده چه ټول قسمونه د عبادت الله لره خاص كوي كه نهاړي عبادت دے او كه لېلي ماموراتو په ځائے راوړل دي او كه منهياتو نه ځان ساتل وي. عبادت د خپو دے او كه د لاسونو او د سترګو او د غوږونو او كه د ژبے دے او كه د سړعبادت دے بدني دے او كه مالي دے د الله تعالٰی حق ادا كول دي او كه د مخلوق پاسے. ټولو صفتونو ذكر په شوډكښ دے اقسامو ته اشاره ده په فكر كولو سره.

ع۱ اَلَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا. نرم رفتار نه مراد شرعي طريقے سره ګرځيدل دي تو د دے معيار سنت د نبي صلى الله عليه وسلم دے په اعتبار د كيفيت د رفتار او په اعتبار د مقصد د رفتار. او كيفيت د ګرځيدلو په سورة لقمان ۱۹ كښ وَاقْصِدْ سره ذكر كړے شوے دے يعني نه ډير تيز او نه ډير په مزه او دا رنګ نه په ډير ټيټ وي او نه په ډير نيغ وي بلكه لږ په مخه نه كوږ وي، لكه سړے چه كښته تګ كوي او مقصد د ګرځيدلو سنت طريقه دا ده چه د دعوت او تبليغ د پاره او اطاعت د پاره ګرځي د فساد او ګناه د پاره دے نه ګرځي بيا صرف ګرځيدل مراد نه دي بلكه تمام ژوند د سنت موافق تيرول مراد دي. او دا كنايه ده د عدم تكبير نه ځكه چه عدم تكبير منع د ګناهونو ده.

ع۲ وَاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا، يعني جاهلان خلق كوشش كوي چه دوي لره د صحيح رفتار نه منع كړي. كه كنځل ورته كوي طعنونه او بهتانونه ورپسے جوړ وي نو دوي د هغوي نه ځان بچ كوي او حقه خبره ورته كوي د سلام يو معنٰى تسلمًا او براءت او اعراض كول لكه سورة قصص ۵۵ كښ دي او بله معنٰى صحيح او حقه وينا كول دي.

وَّقِيَامًا ﴿٦٤﴾ وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا

او اولاړ۔ او دا هغه کسان دي چه وائي اے ربه زموږه

اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا

واړوے زموږ نه عذاب دَ جهنم يقيناً عذاب دَ هغے

كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿٦٦﴾

دے تاوان۔ يقيناً دا ناکاره ځاے دَ آرام دے او ځاے دَ ديره کيدلو دے۔

س٦٤:۔ په دے آيت کښ څلورم صفت ذکر کړے دے مطلب دا چه
تير شوي آيت کښ دَ دوي دَ ورځے کار ذچه دعوت دَ پاره کرځيدل دي)
ذکر کړو نو په دے کښ دَ شپے عمل ذکر کړو اشاره ده چه دَ تبليغ او
دعوت الى الحق دَ پاره دَ شپے عبادت او تهجد کول ضروري دي دَ پاره
دَ استعانت او استغفار طلب کولو دَ الله تعالى نه۔ سجده او قيام ئے
خاص ذکر کړل ځکه چه دَ شپے په تهجد کښ دا دواړه اوږده کول پکار
دي او دا صفت ئے سورة السجده س١٦ کښ هم ذکر کړے دے۔
س٦٥:۔ په دے کښ پنځم صفت ذکر دے مطلب دا چه سرۀ دَ طاعت
او عبادت کولو نه ويره دَ عذاب نه کوئ لکه سورة مؤمنون س٦٠ کښ.
او دا مقصد دَ عبادت دے چه دَ عذاب دَ جهنم نه بچ شي يعني وائي چه
دَ دے عبادت توفيق په اسے طريقه سره راکړے چه دَ عذاب نه
دَ بچ کيدلو سبب او ګرځي۔
غَرَامٌ هميشه لازم او تاوان او هلاکت ته وئيلے کيږي۔
س٦٦:۔ په دے کښ عظمت دَ دغه عذاب ذکر دے يعني دا عذاب
ډير بد او ناکاره دے دَ دے وجے نه ويره کول ترينه ضروري دي۔
مُقَامَ په پيش دَ ميم سره ځاے دَ اقامت او ديره کيدلو ته وئيلے
کيږي او په زور دَ ميم سره ځاے دَ اودريدلو ته وائي۔

وَالَّذِيْنَ إِذَآ أَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَلَمْ

او دا هغه کسان دی چه کله خرچ کوی نو حد نه تیریدل نه کوی او نه

يَقْتُرُوْا وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ وَالَّذِيْنَ

شو متیا کوی . او دی په مینځ د دے کښ برابر (میانه حاله) - او دا هغه کسان دی

لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ إِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ

چه نه رابلی د الله تعالیٰ سره مدد گار (حاجت روا) بل او نه وژنی

النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا

نفس لره هغه چه حرام کړیدے الله تعالیٰ وژل د هغه بغیر د جرم شرعی نه او نه

يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾

زنا کوی او که چا اوکړو دا کارونه ملاقی بشی د سزا د گناه سره۔

۶۷:- په یکښ درے (یقترو ، اووم ، اتم) صفتونه ذکر کوی تیر شوی صفتونو
کښ طاعت کول په ماموراتو کښ ذکر کړل نو په یکښ د گناهونو نه بچ کیدل
ذکر کوی، دا رنگ مخکښ عبادت بدنیه ذکر وو او س عبادت مالیه ذکر کوی۔
اسراف، خرچ کول دی په غیر د طاعت د الله او د رسول نه لکه خرچ کول په
شرک او بدعاتو او فسق و فجور کښ - اقتار. بخل کول د خرچ کولو نه په
طاعت د الله او د رسول کښ لکه زکوٰة نه ورکول او په دعوت او جهاد کښ
خرچ نه کول او نور فرض واجب نفقات نه کول هر کله چه په نفی د
اسراف او اقتار سره وهم کیدلو چه بالکل خرچ نه کوی نه فرض نه
واجب نو جواب اوشو چه وَكَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا نو دا دوه صفات سببیه
دی او یو صفت ثبوتی دے۔ قَوَام په طاعت د الله او د رسول کښ خرچ
کول او دا رنگ سورة بنی اسرائیل ۲۹ کښ هم تیر شوی دی۔
۶۸:- په دے آیت کښ درے صفات (نهم ، لسم ، یوولسم) ذکر کوی تیر شوی
صفات تلحیه وو او دا صفات تخلیه دی یعنی سلبیه دی یعنی د مخکنو
صفتونو په سبب دوی د مشرکانو د عملونو نه ځان بچ ساتی۔ یو د هغے نه
شرک فی الدعاء دے۔

يُضٰعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

زيات كيدے به شي هغه لره عذاب په ورځ د قيامت

وَيَخْلُدْ فِيهٖ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ اِلَّا مَنْ تَابَ وَ

او هميشه به وي په هغې كښ ذليل كړے شوے . مگر هغه څوك چه توبه ئې اوكړه او

اٰمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَاُولٰٓئِكَ

ايمان ئې راوړو او عمل ئې اوكړو عمل نيك نو دغه كسان

يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ؕ وَكَانَ

بدل به كړي الله تعالىٰ بدئ د دوي په نيكو سره ، او دے

اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٧٠﴾ وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ

الله تعالىٰ بخنه كوونكے رحم كوونكے . او چا چه توبه اوكړه او عمل ئې اوكړو

مَعَ اللّٰهِ اشاره ده چه مشرك الله تعالىٰ مني او كله يا الله مدد هم وائي ليكن كله غير الله ته رامدد شه وائي پدے عقيده سره چه دے زمونږ حاجت روا او اختيارمند د نفع او ضرر او غيب دان دے او شرك سبب د قتل ظاهري دے او د قتلِ خفي دے (چه هغه زنا دے) ځكه ورسره يوځائے ذكر كړل .

اٰثَامًا، په معنىٰ د جزاء اثم (سزه د گناه) يا نوم د خاص كندے دے په جهنم كښ .

٦٩ :- دا تخويف دليل دے چه دا تير شوي كارونه د شرك او د حالت د كفر دي ځكه چه مضاعفه (زيا تيدل) د عذاب او هميشه والے او اهانت درے واړه خاص دي په كافر او مشرك پورے .

فِيهٖ، په يو قراءت كښ په هٖ لفظ كښ اتباع ده ياء طرف ته او دا اشاره ده چه په عذاب كښ بالكل خكته پراته دي .

٧٠ :- دا ترغيب دے توبه كولو ته د تير شوے درے واړه گناهونو ذكر كړے شوي نه .

يُبَدِّلُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِهِمْ حَسَنٰتٍ ، پدے كښ درے اقوال دي اول دا چه د دوي

صَالِحًا فَإِنَّهٗ يَتُوْبُ إِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾

نیک عمل نو یقیناً دا کس ورګرځي الله تعالیٰ ته په ورګرځیدلو۔

وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ ۙ وَإِذَا

او دا هغه کسان دي چه نه حاضر بیږي دروغو ته او هرکله چه

مَرُّوْا بِاللَّغْوِ مَرُّوْا كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَالَّذِيْنَ

تیریږي په ناروا کار باندے ورتیریږي ځان بچ ساتونکي۔ او دا هغه کسان دي

ناکاره تومونه اوصفتونه بدل کړي په ښائسته تومونو اوصفتونو سره او دویم دا چه ګناهونه ورته معاف کړیشي او توفیق د نیک اعمالو ورکړے شي اودریم دا چه د دوی د عمل نامو نه بد اعمال وران کړے شي او د هغې په ځائے د اعمال صالحه اجر و ثواب اولیکلے شي۔

ملے :۔ تیرشوي آیت کښ ذکر وه توبه د مشرکانو د دے وجے نه په هغې کښ ئے ایمان ذکر کړے وؤ او په دے آیت کښ توبه ده د مؤمنانو ګنهګارانو.

فَإِنَّهٗ يَتُوْبُ، دا علت د جزاء پټے دے یعنی توبه د دهٔ قبوله ده ځکه چه د دهٔ توبه په اخلاص سره ده۔ او دواړه آیاتونه دلیل دے چه توبه د قاتل عمدي هم صحیح ده او دا قول د ډیرو صحابو نه نقل دے.

ملے :۔ په دے آیت کښ دوه صفتونه ذکر کوي (دولسم، دیارلسم) او د دے صفتونو مقصد ځان بچ کول دي د اسبابو د ګناهونو نه۔

لَا يَشْهَدُوْنَ، د شهود نه مراد دا دے چه نه حاضریږي او تماشے نه کوي یا د شهادت نه دے یعنی ګواهي د دروغو نه کوي۔

الزُّوْرَ، هر باطل ته وئیلے کیږي چه خائسته کړے شوے وي او په دے کښ داخل دے شرک، بدعات، فسق و فجور اخترونه د مشرکانو، عرسونه، میلے په قبرونو باندے، سینما ګهر، هغه لوبے چه هغې سره ګناهونه وي. اجتماعات او جلسے جلوسونه د شرک او د بدعاتو، مجلس د ټنګ ټکور ګډا، مجلس د دروغو وئیلو او غیبت او بهتان وئیلو دا لفظ ټولو ته شامل دے ځکه دے کارونو ته او د دے مجلس ته حاضریدل او تماشے کول سبب د ډیرو ګناهونو دے۔

إِذَا ذُكِّرُوا بِآيٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا

چه هرکله بیان کړشي دوی ته آیاتونه د رب خپل نه پریوځي

عَلَيْهَا صُمًّا وَّعُمْيَانًا ﴿۷۳﴾ وَالَّذِينَ يَقُولُونَ

په هغې باندې کاڼه او ړانده - او دا هغه کسان دي چه وائي

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا

اے ربه زمونږه را وبخښه مونږ ته د بيبيانو زمونږ نه او اولاد زمونږ نه

قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿۷۴﴾

یخوالے د سترګو او اوګرځوئ مونږ د متقیانو د پاره پیشوا -

اللَّغْوِ سرودونه، غزل خواني. مجالس د باطل اعمالو او ټول ګناهونه.
كِرَامًا، اعراض کوونکي، ځان ساتونکي يعنې هغوی سره نه کيني او نه ورته او دريږي او نه پرے خوشحالي کوي بلکه په وخت د تيريدلو کښ بل خوا ته مخ اړوي -
۷۳:- دا څوارلسم صفت دے او دا صفت سبب دے د حاصلولو د ټولو صفاتو حسنو ځکه چه قرآن آوري په توجه سره او په هغے کښ غور او فکر کوي او په هغے باندے عمل کوي نو تير شوي خائسته صفات پدے سره حاصليږي -
لَمْ يَخِرُّوا، كنايه ده د غفلت نه كولو نه - خَرُّوا ئے دلته ځکه اوفرمائيل چه انسان په مجلس د قرآن لوستلو کښ غفلت اوکړي نو خوب ورباندے غالب شي نو سرئے مخے طرفته را وغورځيږي -
۷۴:- دا پنځلسم صفت دے يعنې تير شوي صفتونه لکه چه ځان کښ غواړي نو دا رنګ په خپل اهل وعيال کښ دا صفتونه خوخوي -
قُرَّةَ أَعْيُنٍ، د سترګو يخ والے كنايه ده د خوشحالئ نه چه په کتلو سره حاصليږي يعنې مؤمن سړے چه دا صفتونه په خپل اهل وعيال کښ وينې نو خوشحاليږي نو معلومه شوه چه څوک د اهل وعيال په بد اخلاقئ بدکردارئ باندے خفه کيږي نه نو د هغه ايمان کښ نقصان دے -

أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا

دغه صفتونو والا به اله په ورکیدبشی د وپته بنگلے په وجه دَصبرکولو دَدوی ر پېغه کار ونوباندې

وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴿٧٥﴾

او پیش کولے به شی دوی ته په هغے کښ مبارکی او سلام -

خَالِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾

همیشه به وی دوی په هغے کښ ، خائسته دی دا بنگلے ځائے دَ اوسیدلو او ځائے دَ دیره کیدلو.

قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ ۖ

ته او وایه پروا نه کوی ستاسو په عذاب بانَدې رب زما که چرې نه وے بندګی ستاسو د تیر شوې

فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

عملونو پس یقینًا تکذیب او کړو تاسو پس زر دے چه شی به عذاب په تاسو باندې لازم.

وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ، دا په اصل کښ دُعا ده دَپاره دَ اهل وعیال په تقوی سره او هر سرې امام دے دَخپل اهل وعیال دَپاره یعنی دوی منقیان او ګرځوے دَدے دَپاره چه زه دَ متقیانو امام او ګرځم ، إِمَامًا جمع دَ آمّ ده یا مصدر دے په معنی دَجمع اے مبنی للمفعول دے . یا مفرد دے په معنی دَ مقتدا سره .

۷۵، ۷۶ :- دا بشارت دے هرکله چه دا تیرشوی صفتونه په صبر سره حاصلیږی دَدے وجے نه صَبَرُوا ئے ذکر کړو او هرکله دا صفتونه چه اوچت او عالی صفات دی نو جزاء به ئے هم په جنت کښ اوچتے بنګلے وی . فرق په مینځ دَ تحیه او سلام کښ دا دے چه تحیه دَ الله تعالی دَطرفنه ده او سلام دَملائکو او دَ ملګرو دَطرفنه دے . یا تحیة پیغام دَ بادشاهۍ او دَ همیشوالی دَے او دَ سلام معنی مشهوره ده . یا تحیه سلام دے او سلام په معنی دَ مبارکۍ دَے په سلامتیا سره - حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ، دا بل مقابل دے دَ ۶۶ .

۷۷ :- پدے آیت کښ تخویف دنیوی دے هغه چالره چه دَ دے مخکښ صفتونو نه مخالفت او تکذیب کوی او دَ دے سورت دَ مقصد نه انکار کوی . پدے آیت کښ توجیهات دی مَا استفهامیه دے په معنی دَ انکار . یا نافیه دَے او مفصد دَ دواړو یو دَے .

یکُمْ په عذاب ستاسو یا په بخنه ستاسو - دُعَآؤُکُمْ، اول معنیٰ عبادت نه، ستاسو په مخکښې بیان کړې شوې صفاتو کښې نو دُعا په معنیٰ دَعبادت سره ده اودا معنیٰ دَ ایمان ده ځکه امام بخاری دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړیدی چه دُعا په معنیٰ دَ ایمان ده (اول باب دَ کتاب الایمان)- دوېیم معنیٰ د غوښتل ستاسو دَ الله تعالیٰ نه په مصیبتونو کښې پدې دواړو توجیهاتو کښې اضافت دَ دُعا دې فاعل ته- درېیم دعوت دَ الله تعالیٰ تاسو لره توحید ته پدې کښې اضافت دَ دعا دې مفعول ته- څلورم بلنه ستاسو غیرالله لره په شرکی بلنې سره پدې کښې اضافت دَ دعا دې فاعل ته- په اولو درې توجیهاتو سره دَ یکُمْ معنیٰ بعذابکم ده او په څلورمه معنیٰ کښې دَ یکُمْ معنیٰ ده بمغفرتکم سره-

(تفصیل دَ دې معانو دا دې)

اوله معنیٰ پرواه نه کوی یا څه پرواه به اوکړی الله تعالیٰ په عذاب ستاسو بانذې که نه وې عبادت کول ستاسو الله تعالیٰ لره په طریقه دَ عباد الرحمن سره یعنی ایمان ستاسو (دا خطاب دې مؤمنانو ته) فَقَدْ كَذَّبْتُمْ پس انکار اوکړو تاسو دَ دغه طریقې دَ عبادت نه (اے کافرانو) نو زر دې چه عذاب به په تاسو پورې اونخلی-

دوېیمه معنیٰ پروا نه کوی یا څه به اوکړی پروا الله تعالیٰ په عذاب ستاسو که نه وې (بلنه ستاسو دَ الله تعالیٰ په سختو کښې پس (روستو دَ دې نه) تاسو شرک اوکړو نو زر دې چه عذاب به تاسو سره اونخلی-

درېیمه معنیٰ، پرواه نه کوی الله تعالیٰ یا څه پرواه به اوکړی په عذاب ستاسو که نه وې دعوت دَ الله تعالیٰ تاسو لره توحید طرفته پس تاسو تکذیب اوکړو دَ دعوت دَ الله تعالیٰ نو زر ده چه عذاب به تاسو پورې اونخلی-

څلورمه معنیٰ څۀ پرواه کوی یا پرواه نه کوی الله تعالیٰ ستاسو په بخنه کولو که نه وې بلنه ستاسو غیرالله لره په حاجتونو او مصیبتونو کښې پس انکار اوکړو تاسو په شرک کولو سره نو زر ده چه عذاب به تاسو پورې اونخلی-

(تمّ تفسیر سورة الفرقان بفضله تعالیٰ)

سورة الشعراء مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | آیاتها ۲۲۷ رکوعاتها ۱۱

خاص په نوم د الله تعالی امداد غواړو په شروع کولو کښ چه رحمٰن او رحیم دے

طٰسٓمّٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ②

الله تعالی د دے په معنیٰ ښه پوهه دے - دا آیاتونه د کتاب ښکاره دی۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الشعراء

ربط :- د دے سورت د مخکښ سورت سره دا دے چه مخکښ دعوی د تبارک ذکر شوه تو په دے سورت کښ تسلی ورکوی نبی صلی الله علیه وسلم لره په نزول د عذاب سره په منکرینو باندے او په نجات سره مؤمنانو لره او نقلی دلیلونه ذکر کوی په دغه مسئله باندے دا رنګ مخکښ عقلی دلیلونه ذکر کړے شول په دعوی د تبارک باندے نو اوس نقلی دلیلونه د انبیاء علیهم السلام نه ذکر کوی۔

دعوی د دے سورت۔ تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په دیرو طریقو سره اول په هلاکت د منکرینو او په نجات د مؤمنانو سره۔ دویم په بیان د صدق د رسول سره په آخر د سورت او په دفع د دوو شبهاتو سره د هغه نه او دعوی د سورت په ۳ ، ۴ کښ ذکر ده او تفصیل د هغے دے په ۸ ، ۹ کښ۔

خلاصه د دے سورت دا ده چه په دے سورت کښ درے بابونه دی اول باب تر ۹ پورے دے په یکښ ترغیب دے قرآن ته بیا دعوی د سورت یے ذکر کړیده بیا درے زجرونه دی اول په اعراض کولو سره په ۵ دویم په تکذیب کولو سره په ۶ دریم انکار د دلیل عقلی نه په ۷ کښ۔ بیا تفصیل د دعوی د سورت دے په دوه آیاتونو کښ۔

تفسیر :- ۱ :- دا د مقطعاتو نه دے خبره دا ده چه د دے په معنیٰ مونږ نه پوهیږو او مقصد یے بیان د اعجاز د قرآن کریم دے په ابتداء د سورت کښ۔

۲ :- د دے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته او مضمون د دے سورت ته۔

اَلْمُبِيْنِ کښ اشاره ده تفصیل د واقعاتو د انبیاء علیهم السلام ته د پاره د دلیل نقلی۔

لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ③

آیا ته وژنې ځان خپل پدې وجه چه دوی ایمان نه راوړی.

اِنْ نَّشَاْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِمْ مِّنَ السَّمَآءِ اٰيَةً

که چرې اوغواړو مونږ را اوبه لیږو مونږ پدوی باندې د طرف د آسمان نه نخښه

فَظَلَّتْ اَعْنَاقُهُمْ لَهَا خٰضِعِيْنَ ④ وَمَا

نو شی به سټونه د دوی هغې ته عاجزی کوونکی. او نه

يَاْتِيْهِمْ مِّنْ ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمٰنِ مُحْدَثٍ

راځی دوی ته څه یادداشت د رحمان د طرف نه چه نوې دی راتلل د هغې

اِلَّا كَانُوْا عَنْهُ مُعْرِضِيْنَ ⑤ فَقَدْ كَذَّبُوْا

مگر دوی د هغې نه مخ اړوونکی دی. پس یقینًا دروغژن کړه دوی حق لره

فَسَيَاْتِيْهِمْ اَنْۢبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑥

نو زر ده چه راشی دوی ته عاقبت د هغه چه وو دوی چه هغې پورې توقې کولې.

۳، ۴ :- پدې کښې دعوی د سورت ده یعنی تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه د دوی په انکار کولو باندې د خفگان د وجې ځان مه وژنه د دوی ایمان د الله تعالی په اختیار کښې دې لیکن الله په دوی باندې جبر نه کوی ځکه جبری ایمان مقصود نه دې.

لَعَلَّكَ دا په معنی د استفهام انکاری دې او دا سې لفظ په سورة کهف ملا کښې تیر شوی دې.

اَعْنَاقُهُمْ، مشران، ډیرې ډلې، سټونه درې واړه معانې کیدې شی.

اِنْ نَّشَاْ مفعول د دې محذوف دې (الایمان بالجبر).

فَظَلَّتْ، ظل دلالت کوی په همیش والی سره د ښکاره والی نه.

۵، ۶ :- پدې کښې زجر دې په درې کارونو سره اعراض، تکذیب او استهزاء.

مُحْدَثٍ، یعنی په نزول کښې نوې دې یا د دوی په گمان کښې نوې دې دا سې سورة انبیاء ۲ کښې هم تیر شوې دی او هر کله چه سورة الانبیاء کښې

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الْأَرْضِ كَمْ أَنۢبَتْنَا

آیا دوی نه گوری زمکې ته چه څومره رازرغون کړیدي موږ

فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ⑦ إِنَّ فِي

په هغې کښې دَ هر قسم بوټي فائده مند نه۔ یقینًا په

ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ⑧

پدیکښې خامخا عبرت دے، او نه دي اکثر دَ دوی نه مؤمنان۔

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ⑨

او یقینًا ستا رب خامخا زورآور دے (په دُښمنانو باندې) خاص رحم کوونکے دے په دوستانو باندے۔

تفصیل دَ احوالو دَ غافلینو مقصود وو نو هلته ئې یلعبون ذکر کړیدے
او پدے سورت کښې دَ معرضینو او منکرینو ذکر مقصود دے دَ دے وجې
نه روستو ذکر دَ تیر شوؤ قومونو دے چه هغوی اعراض او انکار کړیوؤ
دَ دے وجې نه دلته مُعْرِضُوْن ئې ذکر کړیدے۔
اَنْۢبٰٓؤُا جمع دَ نبا ده مراد دَ دینه خطرناک او عظیم الشان خبر دے
چه هغه عذاب دے۔

۷:۔ پدیکښې زجر دے په اعراض کولو سره دَ دلیل عقلی نه روستو
دَ ذکر کولو دَ اعراض دَ ذکر (قرآن) نه۔ او پدے دلیل کښې زمکه او
بوټي دَ زمکې قسما قسم سره دَ مختلفو فائدو نه مراد دي۔

۸،۹:۔ دا تفصیل دَ دعوې دَ سورت دے یعنی آیات په قرآن کښې او زمکه او
نباتاتو کښې ډیر دي لیکن دوی دَ ضد او عناد دَ وجې نه انکار کوي او دا سبب
دَ عذاب دے او الله تعالیٰ عَزِیْزٌ دے یعنی عذاب ورکوي منکرینو ته۔
او رَحِیْم دے۔ بچ کوي دَ عذاب نه مؤمنانو لره او دا جملې په دے
سورت کښې اته کرته ذکر شوي دي۔ او اشاره ده چه دا سبب دَ عذاب
تکذیب (عدم ایمان) دے۔ دَ دے وجې نه روستو پنځه قصّې دَ انبیاء
علیهم السلام ئې په تکذیب سره شروع کړې دي۔

ع

وَاِذْ نَادٰى رَبُّكَ مُوْسٰۤى اَنِ ائْتِ الْقَوْمَ

او کوم وخت چه آواز اوکه ستا رب موسی علیه السلام ته چه لاړ شه قوم

الظّٰلِمِيْنَ ⑩ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ؕ اَلَا يَتَّقُوْنَ ⑪

ظالمانو ته - چه قوم دَ فرعون دے، آیا دوی ځان دَ کفرنه نه بچ کوی.

قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ⑫

اُوئیل موسی اے ربه زما یقیناً زهٔ ویریږم چه دوی به ما ته دروغژن اُوائی -

ت۱:- خلاصه :- دَ دے آیت نه دویم باب دے تر ۱۹۱ پورے په دیکښ دَ اوؤ انبیاؤ علیهم السلام واقعات ذکر کوی او په هغے کښ دیرے فائدے دی اول دا نقلی دلیلونه دی په دعوی دَ سورت فرقان باندے - دویم دا نمونے دَ عذاب دی په منکریتو باندے - دریم دا تسلی ده پیغمبر او مؤمنانو له په نجات ورکولو دَ عذابونو دَ دنیا نه او دَ عذاب دَ آخرت نه -

بیا دَ دے آیت نه تر ۶۸ پورے واقعه دَ موسی علیه السلام ده په تفصیل سره او په دیکښ څلور مقامات دی اول مقام تر ۱۷ پورے دے په دے مقام کښ رسالت دَ موسی علیه السلام ذکر کوی او دوه ویرے دَ هغه نه لرے کول او په باره دَ وزور کښ دُعا دَ رسالت قبلول او مقصد دَ رسالت ذکر کړیدے.

تفسیر :- په دے آیت ۱۰ کښ ندا دَ رب موسی ته اجمالاً ذکر کړیده او تفصیل دَ هغے په سورة طٰه کښ تیر شویدے -

ت۱۱:- په دے آیت کښ ئے خلاصه دَ دعوت ذکر کړیده چه تقوی ده او په دے سورت کښ ئے دَ ټولو انبیاؤ په دعوت کښ تقوی ذکر کړیده او دا اتفاقی مسئله ده. مراد دَ تقوی نه دَ هر قسم شرک او کفر نه بچ کیدل دی.

ت۱۲:- په دیکښ اول خوف ئے دَ هغه دَ تکذیب ذکر کړیدے او دا خوف دَ موسی دَ فرعونیانو دَ تکبر دَ وجے نه دے - دَ مخکښ نه دَ موسی علیه السلام تجربه وه په دوی باندے .

وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنْطَلِقُ لِسَانِى

او تنګه به شي سينه زما او نه به چليږي ژبه زما

فَأَرْسِلْ إِلَى هَارُونَ ⑬ وَلَهُمْ عَلَيَّ

نو اولیږه (روح) هارون علیه السلام ته۔ او د دوی په ما باندے

ذَنْبٌ فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ ⑭ قَالَ كَلَّا

جرم دے نو ویریږم چه دوی به قتل کړی ما لره۔ او فرمائیل الله تعالیٰ هیڅ کله نشی کیدے

فَاذْهَبَا بِآيٰتِنَآ إِنَّا مَعَكُمْ مُّسْتَمِعُونَ ⑮

نو لاړ شئ دواړه په معجزاتو زمونږ سره یقیناً مونږ سره ستاسو آورېدونکی یو۔

ﻧﻤﺒﺮ ١٣:- په دیکښ دوه حالات ئے ذکر کړیدی په ترتیب سره او عطف د سبب دے په سبب باندے۔ یعنی تکذیب سبب د تنګوالی د زړه دے او تنګوالے د زړه سبب د ژبے د بندیدو دے ځکه چه بعضے انسان غصه او خفه شی نو خبرے نشی کولے او دا دواړه اسباب دی د دُعا غوښتلو د پاره د ملګر تیا د هارون علیه السلام۔

ﻧﻤﺒﺮ ١٤:- په دیکښ ئے دویم خوف ذکر کړے دے۔ وَلَهُمْ لفظ دلیل دے چه موسیٰ علیه السلام دغه وخت صرف د فرعونیانو مجرم وؤ د الله تعالیٰ مجرم (ګنهګار) نه دے په دغه قتل سره ځکه چه دا قتل ګناه نه وؤ۔ او معلومه شوه چه خوف د اسبابو د لاندے د پیغمبرانو د شان نه لرے خبره نه ده۔

ﻧﻤﺒﺮ ١٥:- دا تسلی ده په لرے کولو د دویم خوف سره او تثبیت ورکول دی دے دواړو ته۔ خوف د موسیٰ علیه السلام په اصل کښ خوف د دواړو رونړو دے ځکه چه د دواړو مقصد یو دے د دے وجے نه صیغه د تثنیه د فَاذْهَبَا ذکر کړو او ذکر د آیاتو په سورة اعراف او طٰه کښ شوے دے۔

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ

نو لاړ شئ دواړه فرعون ته نو اوايئ چه يقيناً مونږ (مرېيو) رالېږلے شوي يو

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ

د طرف د رب العالمين نه. چه راپرېږده زمونږ سره بنی

إِسْرَآءِيْلَ ﴿١٧﴾ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِيْنَا

اسرائيلو لره. او وئيل فرعون آيا پالنه نه ده ستا مونږ په كور زمونږ كښې

وَلِيْدًا وَّلَبِثْتَ فِيْنَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِيْنَ ﴿١٨﴾

وړوكے وے او اوسيدل كړيدی تا زمونږ سره د عمر ستا نه ډير كلونه.

سـ١٦، سـ١٧:- په دې كښې دوه مقصد و ته د رسالت ذكر كړے شويدی اول مقصد رسالت د رب العالمين يعنې دعوت وركول توحيد د ربوبيت د الله تعالیٰ ته. دويم مقصد مظلوم قوم مؤحدين د ظالمانو نه خلاصول د پاره د دے چه هغوی دين توحيد قائم كړی۔ او دا دواړه د پاره د اعلاء د كلمة الله دی او جهاد دے په سورة طه سـ٤٧ كښې تفصيل د رسالت مقصد وؤ او رسالت د دواړو (موسیٰ او هارون عليهما السلام) مستقل وؤ نو ځكه تثنيه (رسولا) ذكر كړے وؤ او دلته اختصار مقصد دے نو رسول مفرد په معنیٰ د جنس سره ئے ذكر كړو يا په عبارت كښې تقدير دے يعنې كل واحد منا رسول۔

سـ١٨:- خلاصه :- د دے آيت نه دويم مقام دے تر سـ٣٣ پورے په دې كښې جواب دے د ځلورو شبهاتو د فرعون په موسیٰ عليه السلام باندے او تفصيل د عالمين دے د پاره د وضاحت د لفظ د رب العالمين او بيا اظهار د دوؤ معجزاتو دے۔

تفسير :- په دے آيت سـ١٨ كښې اوله شبهه ده يعنې تحقير د موسیٰ عليه السلام دے په احسان ذكر كولو سره يعنې وركوتوالی كښې ستا تربيت مونږ كړے وؤ او تر ځوانئ پورے عمر دے مونږ سره تير كړيدے مونږ درله خوراك څښاك وغيره دركړيدے نو زما احسان نه منے ؟

وَ فَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِیْ فَعَلْتَ وَ اَنْتَ

او کړیدې تا کار ستا هغه چه تا کړیو څو پدې حال کښې چه ته

مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ﴿۱۹﴾ قَالَ فَعَلْتُهَآ

دَ ناشکرو نه وې ـ اُوئیل موسٰی علیه السلام کړیوؤ ما دغه کار

اِذًا وَّ اَنَا مِنَ الضَّآلِّیْنَ ﴿۲۰﴾ فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ

په دغه وخت اوزهٔ اوم دَ ناخبرو نه ـ نو او تختیدم ستا سو نه

او دویمه شبه چه دلته کښې تا عمر تیره وړ نو دا دعوٰی (دَ رسالت) خو تا نه کوله او س څنګه دعوٰی کوې ـ

۱۹ ـ دا دریمه شبه ده چه سرهٔ زمونږ دَ احسانا تو نه زمونږ دَ قوم سړے دے قتل کړیدے ـ

وَ اَنْتَ مِنَ الْكٰفِرِیْنَ ، یعنی ته پدے قتل کولو سره کافر شو یوے یا زما ناشکری دے کړیده یا چه مونږ ته کافر ولیګے نو هغه وخت ته هم زمونږ سره زمونږ په شانتے کافر وے دا ټولے معانے مرادکیدے شی. او فرعون دَ رعب دَ وجے نه تصریح په قتل کولو سره نشی کولے صرف فعل لفظ ئے درے کرته ذکر کړیدے ـ

۲۰ ـ دا جواب دے دَ دریمے شبهے دا جواب ئے دَ دے وجے نه مخکښې راوړو چه دا دینی اعتراض او یو تا هی وه نو دَ دے صفائی مخکښې پکار ده ـ

مِنَ الضَّآلِّیْنَ ، مراد دَ دینه ګمراهی مقابل دَ هدایت هرګز نه ده ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ ګمراهئ نه معصوم وی ، بلکه مراد دَ ضلال نه خطائی ده یعنی زهٔ پوهه نوؤم چه دا قبطی به په موکه باندے مړ کیږی یعنی ما اراده دَ قتل نه وه کړے بلکه دَ دهٔ دَ دفع کولو په اراده ے موکه رسوک) وهلے وه ـ او قتل خطائی ګناه نه دے ـ دویم دا چه ضلال په معنٰی دَ ناخبرئ دے لکه وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰی (الضحٰی ۷) یعنی ما ته دَ الله تعالٰی دَ طرفه هیڅ خبر او وحی نه وه راغلے چه قتل کول دَ قبطی چه ظلم هم کوی او په دار حرب کښې وی او کافر وی ناجائز دے نو معلومه شوه چه څوک پدے قتل سره موسٰی علیه السلام نه دَ ګناه

لَمَّا خِفۡتُكُمۡ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمًا

هرکله چه ویریدم ستاسو نه نو را او بخښله ماته رب زما پوهه مضبوطه

وَّجَعَلَنِي مِنَ الۡمُرۡسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلۡكَ

او جوړ یې کړم زه د پیغمبرانو نه ۔ او (آیا) دا څه

نِعۡمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنۡ عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسۡرَآءِيلَ ﴿٢٢﴾

نعمت دے چه ته یې زیاتو نه کوے په ما باندے چه خدمتونه دِ اخستی دی د بنی اسرائیلو نه ۔

کبیره نسبت کوی نو دے بخپله په گناهِ کبیره کښی اخته شو ځکه چه قتل کول دَ کافر چه ظلم هم کوی او دا رحرب کښی وی او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه پدے باره کښی دَ مخکښی نه حکم نه وی راغلے او قصد دَ قتل یې هم نه وو شوے دا دَ نبوت سره هیڅ منافات نه لری. (دا رنګ تفسیر قرطبی کښی ذکر کړے دی) صرف دومره خبره کیدیشی چه موسیٰ علیه السلام نه بے احتیاطی او شوه نو خلاف اولیٰ کار دے چه دَ مقربینو دَ شان سره مناسب نه وُو دَ دے وجے نه موسیٰ علیه السلام دَ هغے نه استغفار کړیدے (لکه چه په سورة قصص کښی به راشی) او الله تعالیٰ ورته مغفرت کړیدے.

۲۱:۔ یعنی دَ وطن نه هجرت کول زما دَ دنیا پرستئ یا دَ سرکشئ دَ وجے نه نه دی بلکه ستاسو دَ خوف دَ ظلم دَ وجے نه دی۔

فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكۡمًا، جواب دے دَ دویمے شبهے یعنی دَ دے قول وَلَبِثۡتَ فِينَا مِنۡ عُمُرِكَ سِنِينَ . یعنی ما دعویٰ دَ رسالت دَ مخان نه نهٔ شوه کولے لیکن هرکله چه روستو دَ هجرت نه الله تعالیٰ ماته پوهه او رسالت راکړو نو ځکه اوس دعویٰ دَ رسالت کوؤم۔

۲۲:۔ دا جواب دَ اولے شبهے دَ فرعون دے او پدیکښی دیر توجیهات دی اوله توجیه دا استفهام تقریری دے یعنی اقرار دے په احسان دَ فرعون باندے چه تا دَ نورو بنی اسرائیلو نه خدمتګاران جوړ کړے وُو او زهٔ دے دَ دینه معاف کړے ووم دا احسان ستا منم۔

دویمه توجیه دا استفهام انکاری دے یعنی آیا دا څه احسان دے چه زما قوم نه دِ غلامان جوړ کړیوُ او هغوی دِ ذلیل کړے وُو او دَ هغوی تذلیل

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾ قَالَ

اُووئيل فرعون او څوک دے رب العالمين - اُووئيل موسٰی

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ

اختيارمند دَ آسمانونو او دَ زمکے او دَ مينځ دَ دے دواړو ،

اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهٗٓ

که تاسو يقين کوؤنکی يئ - اُووئيل فرعون هغه چاته چه کير چاپيره وو دَده

خو زما تذليل دے ځکه مشهور متل دے چه (مَنْ اُمِّنَ قَوْمُهٗ ذَلَّ) .
دريمه توجيه او استفهام انکاری دے يعنی دا څه احسان دے چه ته يئے
په ما بانده زياد وے چه تا ذليل کړے وُو بنی اسرائيل پدے وجه چه
تا دَ هغوی ځامن قتل کول نو هغوی دَ ويرے دَ وجے نه ما لره درياب کښ
اوغورځوو او تاسو زهٔ دَ درياب نه را اوچت کړم او ستا بی بی زهٔ دَ ولد
پشان اوئيولم يعنی زما تربيت ستاسو په کور کښ ستاسو دَ ظلم نتيجه ده.
څلورمه توجيه. استفهام انکاری دے يعنی دا څه احسان دے چه په
ما باندے زياد وے بلکه تا خدمتونه اخستل دَ بنی اسرائيلو نه نو هغوی
په زميندارئ وغيرهِ خدمتونو کښ مال گټلو نو تا به هم خوړله او ځکه
او ما هم دَ هغے مال نه خوراک څکاک کولو نو حقيقت کښ دَ بنی اسرائيلو
احسان دے په تا باندے او په ما باندے.
۲۳:. دا څلورم سوال دے دَ فرعون په طريقه دَ تلبيس سره په قوم
باندے مراد دده دا وُو چه عالمين خو صرف دَ مصر خلق دی او دَ دوی
نظام خوزهٔ چلوم نو رب العالمين زهٔ يم بل څوک دے يعنی دَ عالمين
مقصد يئے نه پيژندلو.
۲۴: نه تر ۳۳ پورے پدے آيا تونو کښ بيان دَ مضاف اليه دے
يعنی العالمين. ځکه چه فرعون دهوکه ورکوله خپل قوم ته په معنٰی
دَ العالمين سره نو موسٰی عليه السلام اول علويات سفليات وسطيات
بيان کړل، نو فرعون مخاطبينو ته تعجب ورکوؤ دَ پاره دَ دے چه قول
دَ موسٰی عليه السلام په دوی باندے څه اثر او نکړی بيا موسٰی عليه السلام

أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ

آیا تاسو غوږ نه نیسئ - اوویل موسیٰ علیه السلام اختیار منډ ستاسو دی او اختیار منډ ستاسو د مشرانو

الْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي

زړو دے - اوویل فرعون یقیناً رسول ستاسو هغه چه

أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾ قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ

رالیږلے شوے تاسو ته خامخا لیونے دے - اوویل موسیٰ اختیار منډ د مشرق

وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾

او مغرب او د مینځ د دے دواړو دے، که چرے تاسو عقل لرئ -

قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ

اوویل فرعون که چرے او دې ګنړلو اختیار منډ زما نه سوا خامخا زه به او ګرځوم تا له

مِنَ الْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ

د جیلیانو نه - اوویل موسیٰ علیه السلام آیا اګرچه راوړم زه تا ته

بِشَيْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَأْتِ بِهِ إِن كُنتَ

دلیل ښکاره - اوویل فرعون پس راوړه هغه که چرے ته یے

موجوده انسانان او مشران ذکر کړل دا سخت حجت وو په فرعون باندے ځکه چه موسیٰ علیه السلام واضحه کړله چه ستاسو د آباؤ اجدادو په وخت کښ دا فرعون نه وو نو د هغوی رب څوک وو؟ د دے وجے نه فرعون سختی اوکړه او موسیٰ علیه السلام باندے د مجنون حکم یے اوکړو- بیا موسیٰ علیه السلام اطراف د زمکے ذکر کړل اشاره یے اوکړله چه د مصر نه بهر نوره دنیا هم شته نو د هغے رب څوک دے په دے خبره د فرعون غصه زیاته شوه نو دباؤ یے اوکړو چه زه به تا جیل ته واچوم -

إِلَٰهًا غَيْرِي یعنی فرعون قوم ته د خیل عبادت کولو امر کړے وو او

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿٣١﴾ فَاَلْقٰى عَصَاهُ فَاِذَا

دَ رشتینو نه - نو گذار یې کړله همسا خپله نو ناګهانه

هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿٣٢﴾ وَّنَزَعَ يَدَهٗ

هغه اژدها وه ښکاره - او راوېستلو یې لاس خپل

فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿٣٣﴾ قَالَ لِلْمَلَاِ

نو ناګهانه هغه سپین وو د کتونکو دپاره د نظر کولو - اووئیل فرعون عمانو ته

حَوْلَهٗٓ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ ﴿٣٤﴾ يُّرِيْدُ

چه چاپېره وو د هغه ته یقینًا دا جادوګر ښه پوهه دے - غواړی

نور آلِهه په په امر د فرعون سره جوړېدل ځکه یې اِلٰهًا غَيْرِيْ اُووئیل یعنی غَيْرِ اِذْنِيْ (بغیر د اجازت زما نه) لیکن موسٰی علیه السلام باندے هیڅ خوف او رعب اثر او نه کړلو او دوه معجزات یې په طلب د فرعون سره پیش کړل -

بِشَيْءٍ مُّبِيْنٍ، مراد د دیته دوه غټ معجزات دی -

فائده :- هر کله چه په آسمانونو زمکو او مابین کښ فکر کولو سره شک لرے کیږی او یقین پیدا کیږی نو اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ یې د هغے سره ذکر کړو او د اطرافو د مشرق او مغرب او مابین دپاره د عقل ضرورت دے او دا رنګ فرعون په موسٰی علیه السلام د مجنون (بے عقله) حکم اوکړو نو موسٰی علیه السلام د هغه په رد کښ اِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُوْنَ اُووئیل -

٥١ ٣٤ :- خلاصه :- د دے آیت نه تر ٥١ پورے دریم مقام دے په دیکښ مقابله د ساحرانو د موسٰی علیه السلام سره ده او بیا مغلوبیت د هغوی او ایمان راوړل او تثبیت په مقابله د فرعون کښ ذکر کوی -

تفسیر :- په دے آیت ٣٤ کښ قول د فرعون خپلو اراکینو د شوری سره ذکر کوی د دهٔ د قول نه روستو دا سے قول اراکینو د شوری پو بل سره کړیدے لکه چه سورة الاعراف ١٠٩ کښ ذکر شویدی -

أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِ ۖ ق

چه اوباسی تاسو لره د ملک ستاسو نه په جادو خپل سره

فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿٣٥﴾ قَالُوٓا أَرْجِهْ

نو څۀ مشوره کوئ تاسو. اوئیل دوی مهلت ورکړئ دۀ لره

وَأَخَاهُ وَابْعَثْ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿٣٦﴾ لا

او ورور دۀ لره او اولیږه په ښارونو کښ راجمع کوونکی.

يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ﴿٣٧﴾

چه راولی تاته هرغټ جادوګر ښۀ پوهه.

فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿٣٨﴾ لا

پس راجمع کړے شول جادوګر وخت مقرر د ورځے معلومے ته.

وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ﴿٣٩﴾ لا

او اوئیلے شو خلقو ته آیا تاسو جمع کیدونکی یئ (ضرور جمع شئ).

۳۵:۔ دا بدنامه لګوی په موسیٰ علیه السلام باندے چه د هغه د دینی مقصد نه په دنیوی مقصد سره تعبیر کوی.
۳۶، ۳۷:۔ هرکله چه موسیٰ علیه السلام معجزے ته شَيْءٍ مُّبِينٍ اُوئیل نو دوی د مقابلے د پاره سَحَّارٍ په مبالغے سره اوئیل. اَرْجِهْ په اصل کښ اَرْجِهِ دے لیکن د تخفیف د پاره هاء ئے په سکون سره ذکر کړیده دا د ارجاء نه اغستلے شویدے په معنیٰ د روستو کولو او مهلت ورکولو سره.
۳۸، ۳۹:۔ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ نه مراد یوم الزینة دہ چه د مقابلے د پاره مقرر کړے شوے وه.
وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم، دلته استفهام په معنیٰ د امر سره دے او قیل سره ئے تعبیر د تعمیم د قائلینو د وجے نه کړے دے یعنی ګیر چاپیره دیر اعلانونه اوکړے شو.

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِنْ كَانُوْا هُمُ

دَ پاره دَ دے چه تابعداری اوکړو دَ جادوګرو که چرے دوی

الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤٠﴾ فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوْا

زورآور شي. پس هرکله چه راغلل جادوګر دوی اُووئیل

لِفِرْعَوْنَ اَئِنَّ لَنَا لَاَجْرًا اِنْ كُنَّا نَحْنُ

فرعون ته آیا وی به زمونږ دَ پاره بدله که چرے مونږ

الْغٰلِبِيْنَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَاِنَّكُمْ اِذًا لَّمِنَ

زورآور شو. اووئیل فرعون او، او یقینًا تاسو به دغه وخت خامخا

الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُمْ مُّوْسٰٓى اَلْقُوْا

دَ نزدے مرتبے والو نه یئ. اووئیل دوی ته موسیٰ علیه السلام اوغورځوئ

مَآ اَنْتُمْ مُّلْقُوْنَ ﴿٤٣﴾ فَاَلْقَوْا حِبَالَهُمْ

هغه څه چه تاسو غورځوونکی یئ. نو اوغورځولے دوی رسئ خپلے

وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوْا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ

اوهمساګانے خپلے او اُووئیل دوی قسم دے په عزت دَ فرعون بانديے

٤٠:- دَ دوی یقین دا ووُچه ساحران به غالب کیږی ځکه چه دَ تابعداری فیصله ئے اوکړه صرف په اعتبار دَ ظاهر سره طریقه دَ شرط سره ئے ذکر کړه.

٤١، ٤٢:- باطل پرست هرکار دَ دنیا دَ مقصد دَ پاره کوی دَ دے وجے نه هغوی دَ اجرت طلب اوکړو پدے سورت کښ په واقعه دَ مقابله کښ تفصیل او تاکید ډیر دے دَ دے وجے نه اَئِنَّ سره همزه دَ استفهام او لفظ دَ اِذًا ئے اضافه کړیدی او دا په سورة اعراف کښ نه ووُ.

٤٣:- دَ سورة اعراف ١١٥ او طٰه ٦٥ په قرینے سره دا قول دَ موسیٰ علیه السلام دَ قول دَ ساحرانو نه روستو دے نو معنیٰ دا ده چه اووئیل موسیٰ علیه السلام دوی ته پس دَ وئیلو دَ دوی نه.

إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ ﴿۴۴﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ

یقیناً مونږ خامخا زوروَر یو - نو واغورځوله موسیٰ علیه السلام

عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿۴۵﴾

همسا خپله نو ناڅاپه هغې تیر کړل هغه چه دوی د ځان نه جوړ کړي وو -

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿۴۶﴾ قَالُوا آمَنَّا

پس او غورځولے شول جادوګر سجده کوونکي - اُوئیل دوی ایمان راوړے دے مونږ

بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۴۷﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿۴۸﴾

په رب العالمین باندے - چه رب د موسیٰ او هارون دے -

قَالَ آمَنتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ ۖ

اُوئیل فرعون آیا ایمان راوړو تاسو په ده باندے مخکښ د دینه چه اجازت کړے وے ما تاسو ته ،

إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ

یقیناً دے خامخا مشر ستاسو دے هغه چه خودلے دے تاسو ته جادو

فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ

پس خامخا زر ده چه پوهه به شئ تاسو، خامخا پرے به کړم لاسونه ستاسو

سلله :- فرعون دعوی د عزت کوله او د دے وجے نه موسیٰ علیه السلام ته ئے مهین (سورۃ زخرف ۵۲ کښ) وئیلے دی نو هغه وخت عادت داوو چه قسم به ئے د فرعون په عزت باندے کوو- او شریعت د الله تعالیٰ کښ قسم په غیر الله او د غیر الله په صفاتو باندے شرک دے دا سے حدیث امام ترمذی نقل کړیدے - مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ أَشْرَكَ (الحدیث) -
سلله نه تر سله پورے تشریح په سورۃ طٰه کښ ذکر کړے شو یده خو فرق په څو طریقو سره دے -
اول دا چه سورۃ طٰه او اعراف کښ خوف د موسیٰ علیه السلام ئے ذکر کړیوؤ بیا ورته وحی اوکړے شوه چه همسا اوغورځوه. او په دے سورت

وَّاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُصَلِّبَنَّكُمْ

او خپے ستاسو ادل بدل او خامخا پاسي په کړم

اَجْمَعِیْنَ ﴿۴۹﴾ قَالُوْا لَا ضَیْرَ ۫ اِنَّاۤ اِلٰی رَبِّنَا

تاسو ټول ۔ اوئیل دوی هیڅ پروا نشته یقیناً موږ خپل رب ته

مُنْقَلِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ یَّغْفِرَ لَنَا

ورګرځیدونکي یو ۔ یقیناً موږ طمع کوؤ چه بخنه به اوکړي موږ ته

۳ ع ۱۸ ۷ رَبُّنَا خَطٰیٰنَاۤ اَنْ كُنَّاۤ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۵۱﴾

رب زموږ د ګناهونو زموږ د دے وجے نه چه موږ اول مؤمنان یو ۔

کښ د خوف ذکر ندے شوے وجه د دے دا ده چه په هغه سورتونو کښ اثر د سحر چے په موسٰی علیه السلام باندے ذکرکړے وؤ او دلته ئے نه دے ذکر کړے او د خوف مناسبت د اثر د سحر سره دے ۔

دوئیم دا چه سورة اعراف کښ فسوف تعلمون دے او سورة طٰه کښ نشته او دلته فلسوف تعلمون ذکر کړے دے ځکه چه پدے سورت کښ ډیر تاکیدات ذکر شویدی نو دا هم د هغے سره مناسب تاکید دے ۔

دریم دا چه د سورة اعراف د مضمون موافق فرعون ته ډیره ویره د خپل اقتدار نو هلته ئے ذکر کړیدے اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِی الْمَدِیْنَةِ لِتُخْرِجُوْا مِنْهَاۤ اَهْلَهَا رسـ ۱۲۳ او د سورة طٰه او د دے سورت په مضمون کښ فرعون په خلقو باندے تلبیس اچوؤ نو د دے وجے نه ئے اوئیل د خلقو د دهوکه کولو د پاره چه موسٰی ستاسو استاذ دے تاسو د دهٔ سره مقابله ځکه اونکړله ۔

څلورم دا چه پدے سورت کښ لا ضیر ذکر کړیدے ځکه چه فرعون ډیر په تاکید سره وئیلے وؤ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ نو دوی د هغے مقابله کښ اُوئیل چه ستا د دباؤ په موږ باندے هیڅ ضرر او نقصان نشته ۔

اَوَّلَ الْمُؤْمِنِیْنَ مراد دا دے چه د معجزے په لیدلو سره متصل ایمان ئے راوړے دے نو دیته محاوره کښ اول وئیلے کیږی یا دا چه دوی په موسٰی علیه السلام باندے د نورو خلقو نه مخکښ ایمان راوړے وؤ ۔

وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي

او وحی اوکړه مونږ موسیٰ ته چه د شپې بوځه بندګان زما

إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ

یقیناً تاسو پسې به درتلل کیدیشي. نو اولیږل فرعون

فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَٰؤُلَاءِ

په ښارونو کښې راجمع کوونکي. (راوئیل هغه) یقیناً دا (بنی اسرائیل)

لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا

خامخا ډله لږه ده. او یقیناً دوی مونږ لره

لَغَائِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ ﴿٥٦﴾

غصّه کوونکي دي. او یقیناً مونږ ګنړ جماعت یو. بیدار تیار.

۵۲:۔ خلاصه :۔ د دے آیت نه خلورم مقام شروع دے د واقعے تر اختتام پورے په دیکښې نجات د مؤمنانو د فرعون نه او بیا د غرق نه ذکر کوی، او عذاب د کافرانو بیانوی۔

تفسیر:۔ بِعِبَادِیْ، په دیکښې اشاره ده چه بنی اسرائیل په دغه وخت کښې د الله تعالیٰ په بندګئ کښې مضبوط وو۔

اِنَّكُمْ مُّتَّبَعُوْنَ کښې اشاره ده چه په تللو کښې غفلت او سستی مه کوئ ځکه چه دشمن در پسے در روان دے۔

۵۳:۔ دا حکمت الهیه دے چه فرعون پخپله خپل قوم د غرق کیدو لو د پاره راجمع کړو۔ په آیت ۳۶ کښې حشر د ساحرانو وو د مقابلے د پاره او په دے آیت کښې حشر د فوج او پولیس او د عامو خلقو مراد دے۔

۵۴، ۵۵، ۵۶:۔ لَشِرْذِمَةٌ، حقیر او سپکے ټکړے ته وئیلے کیږی۔ او دا قول د فرعون د ډیر تکبر د وجے نه دے۔

لَغَائِظُوْنَ، کښې اشاره ده چه دوی زمونږ د دین مخالفت کوی او زمونږ مالونه ئې هم په دهوکه سره اوتختول او زمونږ د حکومت نه ئې بغاوت اوکړو دا اسباب د غصّے دی۔

فَأَخْرَجْنٰهُم مِّن جَنّٰتٍ وَّعُيُونٍ ﴿٥٧﴾

پس اُویستل موږ دوی لره د باغونو او چینو نه۔

وَّكُنُوزٍ وَّمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذٰلِكَ ط وَأَوْرَثْنٰهَا

او خزانو او د ځایونو عزت مند و نه۔ دغسے اوکړو موږ، او ملتے کړل موږ

بَنِي إِسْرَاءِيلَ ﴿٥٩﴾ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾

هغهٔ بنی اسرائیلو ته۔ پس روان شول فرعونیان هغوی پسے د نمر ختلو په وخت۔

فَلَمَّا تَرَاءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ أَصْحٰبُ مُوسٰى

پس هرکله چه مخامخ شوے دواړه ډلے اُوئیل ملګرو د موسٰی علیه السلام

حٰذِرُونَ تیاریو، د اسلحے نه ډک یو، بیدار یو، جَمِیْعٌ، په معنیٰ د جماعت دے یا په معنیٰ د ټولو دے۔

سے۵۷، سے۵۸، سے۵۹:- اشاره ده چه د دنیا مالونه هیڅ فائده نشی ورکولے کله چه عذاب راځي۔ د باغونو او چینو یو بل سره مناسبت دے او دا رنګ د خزانو او بنګلو مناسبت دے نو د دے وجے نه دوه دوه مناسب څیزونه د یو بل سره یوځائے کړل۔

مَقَامٍ كَرِيمٍ، هغه مکان او کرسئ او مجلس چه بادشاه او افسر او یو مالدار لره خاص وی یل څوک ئے نشی استعمالولے هغے ته مقام کریم وائی دارنګ سورة دخان سے۲۵، سے۲۶ او سے۲۷ کښ ذکر دی هلته ئے زروعٌ هم ذکر کړیدے اشاره ده چه په دوی کښ سرمایه داران (کنوزوالا) او جاګیرداران (زروع والا) خلق وو۔ په هغه سورت کښ د عذاب د دخان (قحط) ذکر وو۔ او د هغے اثر په فصلونو باندے موجود وی د دے وجے نه هلته ئے زروع وئیلے دے۔

وَأَوْرَثْنٰهَا بَنِي إِسْرَاءِيلَ، سورة اعراف سے۱۳۷ کښ، زمکه د شام ذکرکړیده نو دا معلومه شوه چه بعضے بنی اسرائیل ئے واپس مصر ته بوتلل او بعضو شام ته هجرت اوکړو۔

سے۶۱:- د بے دینه خلقو عادت دا وی چه تر نمر خاته نزدے پوهے او ده وی۔

إِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّا ۚ إِنَّ مَعِيَ رَبِّيْ

يقينًا موږ لاندې کړېشو - اُوئيل موسیٰ هيڅ نشي کيدې ، يقينًا زما سره رب زما دے

سَيَهْدِيْنِ ﴿٦٢﴾ فَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوْسَىٰ أَنِ اضْرِبْ

خامخا ما ته به لار ښودونه کوي - پس وحي اوکړه موږ موسیٰ عليه السلام ته چه اووهه

بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ ۖ فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ

په همسا خپلې سره درياب ، نو اوچودو پس شوه هره ټکړه

كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٤﴾

پشان د غونډۍ لوے - او رانزدې کړل موږ هلته نور کسان -

وَأَنْجَيْنَا مُوْسَىٰ وَمَنْ مَّعَهٗ أَجْمَعِيْنَ ﴿٦٥﴾

او نجات ورکړو موږ موسیٰ ته او هغه چاته چه هغهٔ سره وو ټولو ته -

ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

بيا غرق کړل موږ نور کسان - يقينًا په دې کښې

سلا ، سلا :- مَعِيَ ئې مفرد اُوئيل ځکه چه د دهٔ په بنی اسرائيلو باندې د پوره ملګرتيا اعتبار نه وو او زموږ د نبی صلی الله عليه وسلم په داسې وخت کښې په يو ملګری چه ابوبکر رضی الله عنه دے په هغه ئې د ملګرتيا اعتماد کړېدے نو صيغه د هغهٔ ئې ذکر کړېده لکه سورة توبه ۴۰ کښې دی - که سوال اوکړېشی چه د موسیٰ عليه السلام سره خو هارون عليه السلام ښته پکار دے چه هغه هم د ځان سره ذکر کړيوے ؟

جواب دا دے چه د إِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ويوونکی په طور د شکايت باندې صرف بنی اسرائيل وو - هارون عليه السلام دا شکايت نه دے کړے نو صرف د هغوی تسلّی مقصد ده -

سلا :- دا معجزه ده موسیٰ عليه السلام په هغې کښې اختيار نه لری ځکه هغه وحی ته محتاج وو - الْبَحْرَ ، درياب ئې قلزم مراد دے - فِرْقٍ ، جدا جدا ټکړونه وئيلے شی - طَوْدٍ ، د ګټو غونډۍ ته وئيلے شی -

سلا ، سلا ، سلا :- په دې آيتونو کښې عذاب د غرق ذکر شوے دے -

لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۶۷﴾ وَاِنَّ

خامخا عبرت دے، او نه دي ډیر د دوی نه مؤمنان - او یقینًا

رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۶۸﴾ وَاتْلُ

ستا رب خامخا زورآور دے رحم والا دے - او بیان کړه

عَلَيْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِيْمَ ﴿۶۹﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ

په دوی باندے خبر د ابراهیم علیه السلام - کله چه اُوئیل هغهٔ پلار

وَاَزْلَفْنَا ثَمَّ، اشاره ده چه دوی دریاب ته دننه په لار وکښ داخل شول.
ثَمَّ، په زور د ثاء سره د پاره د مکان راځي.
۶۷، ۶۸. دا جملے پدے سورت کښ په دویم ځل ذکر شوی دی یعنی پدے واقعه د فرعون کښ عبرت دے.
اَكْثَرُهُمْ، دا ضمیر راجع دے فرعونیانو ته یا موجوده خلقو ته. اَلْعَزِيْزُ، کښ غرق کولو د فرعونیانو او په الرَّحِيْمُ کښ نجات د بنی اسرائیلو ته اشاره ده.
۶۹. د دے نه دویمه قصه (د ابراهیم علیه السلام) شروع شویده تر ۱۰۴ پورے.
هر کله چه زمانه د موسیٰ علیه السلام دے امت ته نزدے وه بلکه د هغې قوم بنی اسرائیل هم موجود دی او په قرآن سره مخاطب دی نو د هغهٔ قصه ئے په تفصیل سره وړاندے ذکر کړه - بیا هر کله چه دے ټولو یهودیانو او نصاریٰ مشرکین عرب خپل نسبت په ابراهیم علیه السلام ته کوؤ، وئیل به ئے چه مونږ د سغهٔ اولاد یو او مونږ د هغهٔ په دین باندے یو. نو اوس د هغه واقعه ذکر کوی چه په هغې کښ رد دے په مشرکینو باندے په حجت الزامی سره او تعریف د رب دے په ذکر د صفاتو د رب سره او دعاګانے د ابراهیم علیه السلام دی او بیا تخویف اخروی دے هغه چا لره چه د پیغمبر په مخالفت کښ تابعداری کوی د مشرکانو ملایانو او پیرانو وغیره - او هر کله چه داسے بیان ډیر عظمتِ شان لری او جامع دے د دے وجے نه دیته ئے نَبَاَ او فرمائیل.

ربع ۳ / وقف لازم

وَقَوْمِهٖ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٠﴾ قَالُوْا نَعْبُدُ

او قوم خپل ته دغه عبادت کوئ (په څه دلیل) . اوويل دوی موږ بندګي کوو

اَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِيْنَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلْ

د شکلونو (عزت مندو) نو هميشه يو مخې ته تعظيم (عبادت) کوونکي . اوويل هغه آيا

يَسْمَعُوْنَكُمْ اِذْ تَدْعُوْنَ ﴿٧٢﴾ اَوْ يَنْفَعُوْنَكُمْ

دوی آوري ستاسو کله چه تاسو بلئ دوی لره . يا نفع درکولے شي تاسو ته

اَوْ يَضُرُّوْنَ ﴿٧٣﴾ قَالُوْا بَلْ وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا

يا نقصان دررسولے شي . دوی اوويل بلکه موندلے دي موږ مشران خپل

كَذٰلِكَ يَفْعَلُوْنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ اَفَرَءَيْتُمْ

چه دغسې کار ئې کوو . اوويل ابراهيم عليه السلام آيا خبر يئ تاسو

مَّا كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٧٥﴾ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمُ الْاَقْدَمُوْنَ ﴿٧٦﴾

په حال د هغه چا چه تاسو هغوی له بندګي کوئ . تاسو او مشرانو ستاسو زړو

ت۷۰، ت۷۱ :- مَا سره تپوس د وجې د عبادت مقصد دے يعنې څه وجه او دليل دے د دوی په عبادت باندې ، او د هغوی د جواب حاصل دا دے چه دا د بزرګانو او د کواکبو د روحانيت مرکزونه دی چه د دوی تعظيم په موږ باندې لازم دے . فَنَظَلُّ ، مراد د دې نه هر وخت دے . يا مراد د دينه ورځ ده يعنې د ورځې د دې بتانو عبادت کوو او د شپې د ستورو او سپوږمۍ عبادت کوو .

ت۷۲، ت۷۳ :- مقصد دا دے چه بزرګان کيدل يا ستوري کيدل صفت د معبوديت نه دے بلکه صفتونه د معبوديت دا دی دُعاګانې آوريدل او قبولول او په نفع ورکولو او ضرر ورکولو او لرې کولو باندې قدرت لرل آيا دا صفتونه په دوی کښې شته ؟

ت۷۴ :- هغوی جواب ورکړو صرف په تقليد سره چه موږ سره دليل نشته بغير د تقليد د ...

ت۷۵، ت۷۶ :- مقصد دا دے چه بندګي کول ستاسو او ستاسو د مشرانو . دا خو

فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٧﴾

پس دوی په دشمنان شي زما (که چرته دوی بندګي او کړم) ماسوا د رب د عالمينو نه.

الَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿٧٨﴾ وَالَّذِيْ

هغه ذات چه زه ئې پيدا کړے يم بيا هغه ما ته لار ښائي. او هغه ذات دے

هُوَ يُطْعِمُنِيْ وَيَسْقِيْنِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا

چه هغه ما له خوراک او څښاک راکوي. او کله

دليل او حجت نشي کيدلے.

أَفَرَءَيْتُمْ، مطلب دا دے خبر راکړئ او سوچ او کړئ په حال او عجز د دے معبودانو باندے صرف ستاسو بندګي کول او د مشرانو خو دليل نه دے.

٧٧:- هر کله چه دليل نشته نو بندګي د غير الله بغير د دليل نه سبب د عداوت او د دوشمنئ دے په ورځ د قيامت، د عبارت تقدير دا دے (انْ عَبَدْتُّمُوْهُمْ فَإِنَّهُمْ يَصِيْرُوْنَ أَعْدَاءً لِّيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ) لکه سورة احقاف ٦ کښ دي. يا تقدير دا دے چه فان عبادتهم عبادة العدوّ (يعني بندګي د دوی دا سے ده لکه بندګي د دشمنانو) چه هيڅ پکار نه راځي.

٧٨:- د دے آيت نه تعريف د رب شروع دے په ذکر د اته صفتونو سره او ديته توحيد د ربوبيت وئيلے شي. اول دا چه الله تعالیٰ خالق دے. دويم دا چه هدايت په تمام مرتبو سره په اختيار د الله تعالیٰ کښ دے (مرتبے د هدايت په کتاب لطائف کښ او تفسير د سورة فاتحه کښ مونږ ذکر کړيدي) او دغه ټولے مرتبے د خلق سره متصل شروع کيږي د دے وجے نه حرف د فاء ئې ذکر کړو.

٧٩:- په دے کښ دريم صفت او څلورم صفت دے په دے دواړو سره قوام د خلق (بدن) راځي لکه چه هدايت سره قوام د روح حاصليږي او د کاملانو خلقو په تيز قوام د روح مخکښ دے د قوام د بدن نه. د دے وجے نه يهدين ئې مقدم کړيدے په يطعمني باندے. او لفظ د هُوَ د حصر د پاره دے او په خوراک او څښاک ورکولو کښ د هغے اسباب پيدا کول (مثلاً باران

مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِيْنِ ﴿٨٠﴾ وَالَّذِيْ يُمِيْتُنِيْ

چه زهٔ ناجوړه شم نو هغهٔ ما لره شفا راکوی. او هغه ذات دے چه مړکوی ما لره.

ثُمَّ يُحْيِيْنِ ﴿٨١﴾ وَالَّذِيْٓ اَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لِيْ

بیا به ژوندے کوی ما لره. او هغه ذات دے چه طمع لرم چه او به بخی ما لره

خَطِيْٓـَٔتِيْ يَوْمَ الدِّيْنِ ﴿٨٢﴾ رَبِّ هَبْ لِيْ حُكْمًا

خطائی زما په ورځ د جزا. اے ربه زما او بخه ما ته کلکے فیصلے کول

ورول بوټي راویستل د هغے نه غلے میوے مشروبات پیدا کول) او په بدن کښ د خوړلو څښکلو قوتونه پیدا کول ټول داخل دی. او په هغے کښ صحت د بدن ته هم اشاره ده. او دا ټول په اختیار د الله تعالیٰ کښ دی.

۸۰:- دا پنځم صفت دے او مرض هم د الله تعالیٰ د طرف نه دے لیکن هغه په ظاهر نظر کښ نعمت نه دے بلکه ابتلاء ده ځکه دلته د هغے نسبت ئے الله تعالیٰ ته اونکړلو. او مرض په بعضے اوقاتو کښ راځی د دے وجے نه په حرف د اذا ذکر کړو. او دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام د مرضونو بد نیو نه نشی. بچ کیږی. او د شفاء دوه معنے دی. اول جوړول د مرض دا خاص دے په الله تعالیٰ پورے. دویم په معنیٰ د علاج بائندے لکه فیه شفاء للناس کښ دلته اوله معنیٰ مراد ده.

۸۱:- دا شپږم او اووم صفت دے او په دیکښ رد دے په هغه چا بائندے چه د مرګ نسبت طبیعت او اختلاف د مزاج ته کوی، بلکه دا په خلق او په فعل د الله تعالیٰ سره دے او اکثر موت د مرض په سبب راځی د دے وجے نه موت ئے د مرض نه روستو ذکر کړو بیا دوباره ژوند د مرګ نه څه زمانه روستو راځی ځکه ثُمَّ ئے ذکر کړو.

۸۲:- په دیکښ اتم صفت ذکر دے او فائده د مغفرت د ګناهونو به په ورځ د جزاء کښ ښکاره کیږی د دے وجے د يُحْيِيْنِ نه روستو په يَوْمَ الدِّيْنِ، سره ئے مقید کړو او غوره دا ده چه دلته مراد د خطيئے نه کړے شوے ګناه نه دے ځکه چه انبیاء علیهم السلام د ګناهونو نه پاک وی بلکه دا په طریقه د اظهار د بندګئ دے. او اَطْمَعُ کښ

وَ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ ﴿۸۳﴾ وَ اجۡعَلۡ لِّیۡ لِسَانَ

او یوځایې کړې ما لره د پوره نیکانو سره . او همیشه او ګرځوې ما لره ذکر

صِدۡقٍ فِی الۡاٰخِرِیۡنَ ﴿۸۴﴾ وَ اجۡعَلۡنِیۡ مِنۡ

نیک په روستنو خلقو کښې . او او ګرځوې ما لره د

وَّرَثَۃِ جَنَّۃِ النَّعِیۡمِ ﴿۸۵﴾ وَ اغۡفِرۡ لِاَبِیۡۤ

حقدارو د جنت د نعمتونو نه . او بخنه او کړې زما پلار ته

اشاره ده په طریقه د عجز و انکسار چه زما عملونه سبب د مغفرت نه دی یعنی بې سببه طمع د مغفرت کوم ځکه چه طمع وټیلې کیږی تعلق د زړه ته په یو څیز پورې بغیر د سبب نه.

۸۳ :- هرکله چه ربوبیت د الله تعالیٰ په ذکر د صفتونو او د نعمتونو سره بیان کړو اوس په هغې باندې تفریع کوی په ذکر د حقوقو د رب سره چه هغه دعا او تضرع ده رب ته، نو شپږ دعاګانې ذکر کوی .

حُکۡمًا، علم مضبوط په عمل سره، انبیاء هم زیادت د علم ته محتاج دی .

وَ اَلۡحِقۡنِیۡ بِالصّٰلِحِیۡنَ، یعنی روستو د مرګ نه په عالم برزخ کښې زما روح د صالحینو سره او ګرځوې او په ورځ د قیامت په جنت کښې د صالحینو سره ملګرتیا راکړې یا مراد دا دے چه توفیق راکړې د اتباع د کاملو نیکانو په دُنیا کښې.

۸۴ :- لِسَانَ صِدۡقٍ ذکر د نیکئ نه مراد دا دے چه توحید زما په اولاد کښې جاری اوساتے او په یکښې د پلار حصّه د ثواب وی ځکه لِیۡ وئیلے دے یا مراد دا دے چه توفیق د داسے عمل راکړې چه روستو د مرګ نه د هغې ثواب ما ته رارسیږی.

۸۵ :- سوال جنت د انبیاؤ سنت دے څوک چه د متصوفو نه وائی چه زۀ جنت نه غواړم بلکه دیدار غواړم نو د دے آیت نه خلاف دہ.

إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِي

یقیناً دے دے د بے لارو خلقو نه۔ او ما شرموې مالره

يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا

په ورځ د دوباره ژوندی کیدلو۔ په هغه ورځ چه نفع نه ورکوي مال او نه

بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾

ځامن۔ مگر هغه څوک چه ورشي الله تعالیٰ ته په زړه روغ سره۔

۸۶:۔ سوال د مغفرت د پلار د پاره روستو د وعدے نه وو د هغهٔ سره، او بیا دا دُعا هم پریخوده لکه د دے تفصیل سورة توبه ۱۱۴ کښې تیر شویدے۔
دویم قول په دے آیت کښې دا دے چه دلته د وَاغْفِرْ نه مراد طلب د هدایت دے په ژوند د هغه کښې۔
۸۷:۔ په یکښې دعا م شرمندګۍ نه. بچ کیدل دی او دا رنګ شرمندګي عذاب د پلار دے د دهٔ په مخکښې، لکه صحیح حدیث کښې راغلي مضمون ئې دا دے چه ابراهیم علیه السلام به خپل پلار لره په ناکاره حالت کښې اُوینی نو دے به اُوائي چه یا ربه تا ما سره وعده کړیوه چه تا به په قیامت کښې نه شرمنده کوم (یعني دا دعا د زما قبوله کړیوه) نو د دینه لوے شرم کوم دے چه زما پلار زما په وړاندے په داسے بد حالٔ کښې جهنم ته ورځي نو الله تعالیٰ به د پلار د ابراهیم صورت بدل کړي په ناکاره شکل سره تردے چه د ابراهیم علیه السلام به ترے هم نفرت پیدا شي او جهنم ته به اوغورځولے شي او ابراهیم علیه السلام به ئې په دغه حالت کښې نه پیژني نو د شرمندګۍ نه په داسے طریقے سره به بچ شي۔
۸۸:۔ په یکښې اشاره ده چه د آزر (پلار د ابراهیم علیه السلام) مالونه ډیر وو او ځوئے ئې (ابراهیم علیه السلام) پیغمبر وو نو هغې ورته نفع ورنکړه د هغهٔ د کفر د وجے نه۔
۸۹:۔ قَلْبٍ سَلِيمٍ، چه خالي وي زړه د شرک او کفر نه او د بدعت او د حرص د دنیا نه او وېره کوونکے وي د الله تعالیٰ نه۔ او نور اندامونه خو د زړه تابع وي ځکه هغه ئې ذکر نکړل او مراد د دینه مؤمن موحد دے

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ

او نزدے به کړے شي جنت پرهیزګارانو ته. او ښکاره به کړے شي

الْجَحِيْمُ لِلْغٰوِيْنَ ﴿٩١﴾ وَقِيْلَ لَهُمْ أَيْنَمَا

دوزخ سرکشانو ته. او او به وئیلے شي دوئ ته کم ځائے کښ دي هغه کسان

كُنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ﴿٩٢﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ هَلْ

چه تاسو د هغوي بندګي کوله. سوا د الله تعالیٰ نه آیا

يَنْصُرُوْنَكُمْ أَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوْا

مدد کولے شي ستاسو یا بدل اخستلے شي. پس پرځے به واچولے شي.

د هغهٔ مال او اولادِ صالح هغهٔ ته به فائده ورکوي چه په شرعي طريقه ئې استعمال کړے وي. یا سلیم چیچلي شوي ته وئیلے شي مراد تری نه ویرېدونکے دے.

٩٠ :- هر کله چه ورځ د قيامت ئې مخکښ ذکر کړه نو پدے آیتونو کښ د هغې ورځې بعضِ تفصيلي حالات ذکر کوي پدے آیت کښ بشارت دے په نزدیکت د جنت سره یعنی متقیانو ته د منزل کولو تکلیف نشي ورکیدلے بلکه جنت به ورته نزدے کړے شي.

٩١ :- دا تخویف اخروي دے. غَاوُوْنَ نه مراد مشرکان عابدان دي چه عبادت او طاعت ئې کړیدے د مشرکانو ملیانو او پیرانو او اقتدار والو او دا شرک ئې کړیدے په وسوسے د ابلیس او د اولاد د هغهٔ سره.

٩٢ :- دا تپوس د زورنے دے د پارهٔ د اظهار د عجز د معبودانو د دوي او مراد د دے معبودانو نه هغه کسان دي چه هغوي هم مشرکان او بدعتیان وو.

٩٣ :- د عابدانو مدد نشي کولے چه د عذاب نه ئې بچ کړي. أَوْ يَنْتَصِرُوْنَ یعنی د ځان نه هم عذاب نشي دفع کولے.

فِيهَا هُمْ وَالْغَاوُنَ ﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ

په هغې کښې دوی او سرکشان ، او لښکرې د ابليس

أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾

ټولے - او به وائی دوی او حال دا چه دوی په هغې کښې د يو بل سره جګړے کوی -

تَاللَّهِ إِنْ كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ

قسم په الله تعالیٰ باندے يقيناً مونږ وو خامخا په ګمراهئ ښکاره کښې - کله چه

نُسَوِّيكُمْ بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَا أَضَلَّنَا

برابر ګڼړلئ مونږ تاسو د رب العالمين سره - او نه وو بے لارے کړے مونږ لره

إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾

مګر مجرمانو - پس نشته مونږ لره سفارش کوونکی -

۹۴ ،۔ هُمْ نه مراد دغه معبودان دی او غَاوُنَ نه مراد عابدان دی -
۹۵ ،۔ د ابليس لښکرے هغه وی چه د ابليس په وسوسے سره په مختلفو ګناهونو کښې اخته شوے دی -
۹۶ ، ۹۷ ، ۹۸ ، ۹۹ :۔ هر کله چه دا عابدان د دغه معبودانو نه نا اميد شول نو ور سره به جګړه شروع کړی -
نُسَوِّيكُمْ ، مراد دا دے چه کوم طاعت او عبادت د الله تعالیٰ پکار وو د غسے مونږ تاسو لره کړيدے -
تسويه ، (برابری) په ټولو صفاتو کښې مراد نه ده ځکه چه ټولو مشرکانو خپل معبودان د الله تعالیٰ نه کم او کوز ګڼړلے دی او وسيلے ئې ګرځولے دی الله تعالیٰ ته - لکه چه لفظ د من دون الله په ډيرو آيا تونو آيت د سورة يونس ۱۸ او سورة زمر ۳ په دے باندے دليل دے -
الْمُجْرِمُونَ ، د دے نه مراد ابليس او د هغه ذُرِّيَه دی د هغوی وسوسے سبب د ګمراهئ د خلقو او ګرځيدلے -
۱۰۰ ، ۱۰۱ ، ۱۰۲ :۔ په دے درے آيا تونو کښې د ۔ يج کيدلو درے طريقے ذکر کوی چه هغه طريقے دوی ته هيڅ فائده نشی ورکولے ۔ سفارش ،

وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿۱۰۱﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً

او نه دوست گرم (مهربان). پس که چرے وے مونږ لره دوباره تلل دُنیا ته

فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۰۲﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ

نو وے به مونږ دَ مؤمنانو نه. یقینًا په دیکښ

لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۰۳﴾

خامخا عبرت دے، او نه دی ډیر دَ دوینه مومنان.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۰۴﴾

او یقینًا ستا رب خامخا هغهٔ زورآور رحم کوونکے دے.

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۰۵﴾ إِذْ قَالَ

دروغژن کړے وو قوم دَ نوح علیه السلام پیغمبرانو لره. کله چه اُوئیل

دوست مخلص، دنیا ته واپسی.

۱۰۳، ۱۰۴:- وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم، مراد دَ دینه مخکنی او روستنی مراد دی یعنی په زمانه دَ ابراهیم علیه السلام کښ او په اوسنئ زمانه کښ اکثر خلق ایمان نه لری.

۱۰۵:- دَ دے آیت نه دریمه واقعه شروع ده. كَذَّبَتْ، سره ئے شروع دَ دے وجے نه اوکړه چه په دے سورت کښ مقصد بیان دَ حال دَ مکذبینو وو. او تکذیب سبب دَ عذاب دے. او مؤنث ئے دَ دے وجے نه راوړو چه دَ دوی سپک والے اوکړیشی.

مُرْسَلِينَ ئے دَ دے وجے نه اوئیلو چه دَ ټولو رسولانو مقصد یو دے چه هغه توحید دے نو دَ یو تکذیب سره دَ ټولو تکذیب راځی او په دیکښ اشاره ده چه انکار دَ توحید ډیر لوے ګناه ده او منکر دَ توحید نه دَ ټولو رسولانو په نیز باندے کافر دے. او دَ دے آیت نه روستو دَ پنځه انبیاء علیهم السلام قصے ذکر کوی او دَ هغوی ئے په پنځو خبرو کښ یو والے ذکر کړے دے.

لَهُمْ اَخُوْهُمْ نُوْحٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٠٦﴾ اِنِّیْ

دوئ ته ورور د دوی نوح آیا ځان نه بچ کوئ د عذاب نه. یقیناً زه

لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

تاسو لره رسول امانتدار یم. پس او یریږئ د الله تعالیٰ نه (د شرک کولو)

وَاَطِیْعُوْنِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ اَسْئَلُكُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ

او تابعداری اوکړئ زما. او زه نه غواړم ستاسو نه پدے باندے هیڅ بدله

اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿١٠٩﴾

نه ده بدله زما مګر په رب العالمین باندے ده.

١٠٦:- اَخُوْهُمْ، پدے سورت کښ په معنیٰ د ناصح او د خیرخواه دے اګر چه د یل قوم نه وی. او د هر یو رسول دلته پنځه پنځه خطابات ذکر کوی اشاره ده چه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام په دے پنځه خطاباتو کښ دین یو وو. اول خطاب اَلَا تَتَّقُوْنَ، د شرک او کفر نه بچ کیدل یا د عذاب نه ځان ساتل مراد دی.

١٠٧:- پدیکښ دویم خطاب دے. لَكُمْ ئې د دے وجے نه مخکښ راوړو چه رسول رالیږلے کیږی د پاره د فائدے د قوم د هغه.
رَسُوْلٌ کښ اشاره ده چه د ځان نه خبرے نه جوړوم. اَمِیْنٌ کښ اشاره ده چه په پیغام د الله تعالیٰ کښ هیڅ نقصان نه کوم.

١٠٨:- پدیکښ دریم او څلورم خطاب دے مراد د تقوی نه توحید دے او مراد د اطاعت نه اتباع د سنت د رسول ده معلومه شوه چه د ټولو انبیاؤ علیهم السلام مقصد دعوت د توحید او د سنت وو.

١٠٩:- پدیکښ پنځم خطاب دے مراد د دینه اخلاص دے او تبلیغ د دین په انبیاء علیهم السلام باندے فرض عین دے د دے وجے نه په هغوی باندے اجرت اخستل حرام وو دا رنګ هرچا باندے چه یو عبادت فرض عین شی نو هغے باندے اجرت اخستل د دغه عبادت حرام وی تفصیل د مسئلے په تفسیر د سورة بقرة کښ تیر شویدے.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١١٠﴾ قَالُوْٓا اَنُؤْمِنُ

پس اوبیریږئ د الله تعالیٰ نه او تابعداری اوکړئ زما۔ دوی اُوئیل آیا ایمان راوړو موږ

لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْاَرْذَلُوْنَ ﴿١١١﴾ قَالَ

په تا بانده او حال دا چه تابع کړی دی ستا سپکو خلقو۔ اوئیل

وَمَا عِلْمِيْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١١٢﴾

هغه نشته علم زما په (حقیقت) د هغه چه دوی عمل کوی۔

سنا :۔ دا جمله ئے مقرر کړیده د دے وجے نه چه مراد د تقویٰ نه، د شرک او کفر نه روستو د نورګناهونو نه ځان بچ کول دی او مراد د اطاعت نه تابعداری په اعمالو کښں ده روستو د تابعداریٔ کولو نه په عقائدو کښں۔

سلا :۔ د دعوت د بیان نه روستو تکذیب د قوم ذکر کوی او دا تفصیل د کذبت دے او پدے جمله کښں د کافرانو د طرف نه درے خبرے مقصد دی۔

اوّل دا چه ستا منګری سپک کارونه کوُنکی او کمزوری او بےعزته خلق دی او دلته تمام باطل پرست خلق حق پرستو ته سپک کوری اګرچه حق پرست په نسب کښں اوچت وی د دے وجے نه دلته د اَرْذَلُوْنَ نه د نسب کوځوالے مراد نه دے۔

دوئیم مقصد، دے ملګرو په زړه کښں په تا ایمان نه دے راوړے هسے سرسری او ښکاره تابعداری کوی۔

دریم مقصد دا دے چه دوی ارذل دی او موږ اشرف (د مالداریٔ د وجے نه) یو، نو موږ د دوی سره په یو مجلس کښں کیناستل بده خبره ګنړو نو دوی د خپل مجلس نه اوشړه۔ د دے وجے نه په روستو درے آیاتونو کښں د دے درے خبرو په ترتیب سره جواب ورکوی۔

سلا :۔ پدے کښں د اولے خبرے جواب دے مراد دا دے چه زهٔ د دوی د سپک کارونو نه خبر نه یم۔

إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿١١٣﴾

نشته حساب دَ دوی مګر دے په رب زما باندے که چرے دوی پوهیدلے.

وَمَا أَنَا بِطَارِدِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ أَنَا إِلَّا

او نه یم زه شړونکے دَ مؤمنانو. نه یم زهٔ مګر

نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ

ویره ورکوونکے ښکاره دوی اُوئیل که چرے منع نه شوے ته

يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾

اے نوح خامخا شے به ته دَ سنګسار کړیشوؤ نه.

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾

اُوئیل دهٔ اے ربه زما یقینًا زما قوم دروغژن کړو ما لره

۱۱۳:- دا دَ دویمے خبرے جواب دے چه دَ زړه دَ ایمان علم ما سره نشته دَ هغے حساب دَ الله تعالیٰ سره دے دَ دے وجے نه ظاهر حال ته په شرع کښ اعتبار دے.

۱۱۴:- دا دَ دریمے خبرے جواب دے حاصل دا دے چه دَ دوی ایمان ته اعتبار دے غریبئ ته ئے نظر نه کوؤ او ایمان والا دَ ځان نه شړلے نشم.

۱۱۵:- اشاره ده چه زهٔ هر کار دَ الله تعالیٰ په اجازت سره کوم او په مسئله کښ دَ هیچا رعایت نه کوم.

۱۱۶:- دَ قوم سره هیڅ حجت او دلیل نه وؤ نو دباؤ نه ئے شروع کړل او دا سے دَ ټولو باطل پرستو حال دے. او دا دَ تکذیب دویمه درجه ده.

۱۱۷:- دَ قوم په مقابله کښ الله تعالیٰ ته عاجزی کول شروع کړل او دا شهادت دَ نبی دے دَ قوم په تکذیب کولو باندے یعنی دوی تر اوسه پورے ایمان قبول نه کړو او توبه دَ تکذیب نه نهٔ اوباسی نو دوی دَ عذاب مستحق دی.

فَافْتَحْ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَّنَجِّنِيْ

پس فیصله اوکړه په مینځ زما او په مینځ ددوی کښ فیصله او بچ کړے ما لره

وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١١٨﴾ فَاَنْجَيْنٰهُ

او هغه څوک چه ملګری زمادی د ایمان والو نه - پس بچ کړو مونږ ده لره

وَمَنْ مَّعَهٗ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿١١٩﴾

او هغه څوک چه د ده ملګری وو په کشتئ ډکه کړے شوے کښ -

ثُمَّ اَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبٰقِيْنَ ﴿١٢٠﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

بیا غرق کړل مونږ پس د دینه باقی خلقو لره - یقینًا په دے کښ

لَاٰيَةً ۚ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٢١﴾

خامخا عبرت دے، او نه دی ډیر د دوی نه ایمان والا -

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٢٢﴾ ع ٦ ١٨

او یقینًا ستا رب خامخا زورآور او رحم کوونکے دے -

١١٨ :- دا دُعا د ښرده په قوم باندے هرکله چه د هغوی د ایمان نه نا امیده شو په سبب د وحی د الله تعالی لکه چه سورة هود ٣٦ کښ تیر شوے دی - او دُعا ده د پاره د نجات د اهل ایمان او فَتْح په معنی د واضحه فیصلے ده مراد تری نه عذاب دے په دغه قوم باندے دا سے په اعراف ٨٩ کښ دی -

١١٩ :- دا قبولیت د دویمے دُعا دے - اَلْفُلْكِ دلته مفرد مذکر دے ځکه صفت ئے هم مذکر دے -

١٢٠ :- دا قبولیت د اولے دُعا دے - اَلْبَاقِيْنَ ئے ځکه اوئیل چه د هغوی نه علاوه په دنیا کښ نور انسانان نه وو صرف هغوی باقی پاتے وو د مومنانو د نجات نه روستو -

١٢١، ١٢٢ :- عذاب په دشمنانو مکذبینو او نجات د مؤمنانو د پاره دا بله نمونه ده -

كَذَّبَتْ عَادُ ِۨالْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ لَهُمْ

دروغژن كړيوو عاديانو پيغمبرانو لره - كله چه اُوئيل دوئ ته

اَخُوْهُمْ هُوْدٌ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اِنِّىْ لَكُمْ

ورور ذ دوى هود عليه السلام آيا ځان نه بچ كوئ ذعذاب نه - يقيناً زۀ تاسو لره

رَسُوْلٌ اَمِيْنٌ ﴿۱۲۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۲۶﴾

رسول امانت دار يم - نو اوويرېږئ ذ الله تعالى نه او تابعدارى كوئ زما -

وَمَآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ اَجْرٍ اِنْ اَجْرِىَ

او نه غواړم زۀ ستاسو نه بدلے پاندے هيڅ بدله نه ده بدله زما

اِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۲۷﴾ اَتَبْنُوْنَ بِكُلِّ

مګر ده په رب ذعالمينو باندے - آيا آبادوئ په هره

رِيْعٍ اٰيَةً تَعْبَثُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَتَّخِذُوْنَ

ډيرئ باندے نخه عبث كار كوونكى يئ - او جوړوئ

۱۲۳، ۱۲۴، ۱۲۵، ۱۲۶، ۱۲۷ :- دا څلورمه واقعه ده چه عاديانو تكذيب كړيوو نو عذاب پرے نازل شو - او ذ هود عليه السلام ذبيان خلاصه ئے په پنځو خبرو كښ ذكر كړه -

۱۲۸ :- ذ شرك نه علاوه دغه قوم دنيا پرست او سرمايه دار ووُ نو په هغے باندے زورنه وركوى -

رِيْعٍ : په معنى ذ ډيرئ ، او په معنى ذلارے او درّه ذ مينځ ذغرونو هر يو معنى مراد كيدېشى دوى به پداسے ځايونو كښ ذخپل قوميت نخے او مينارے جوړولے لګه اوس چه قومى او حكومتى ميناورنه جوړوى او په هغے باندے بے شماره روپئ خرچ كوى بغير ذڅۀ فائدے نه دا عادت ذجاهلانو دے -

تَعْبَثُوْنَ : يعنى دا نخے ئے عبث او بے فائدے جوړولے يا دا چه په لارے تيرېدونكو پسے مسخرے او عبث كارونه كوئ -

مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُوْنَ ﴿۱۲۹﴾ وَ اِذَا

بنګلے دَ دے دَپارہ چہ تاسو پہ همیشہ اوسئ - او کله چه

بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِيْنَ ﴿۱۳۰﴾

نیول کوئ تاسو تو نیول کوئ تاسو ظلم کوونکی -

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۳۱﴾ وَاتَّقُوا

نو او یریږئ دَ الله تعالی نه او تابعداری اوکړئ زما - او او یریږئ

الَّذِىْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

دَ هغه ذات نه چه زیاتی کړیدی هغه نعمتونه چه تاسو ئے پیژنئ -

ف۱۲۹ :- مَصَانِعَ ، په معنیٰ دَ مضبوط او اوچتے بنګلے یا حوضونه دَ اوبو لیکن بے مقصد که په ئے جوړول -

لَعَلَّكُمْ ، په معنیٰ دَ استفهام توبیخی دے یا لَعَلَّ په معنیٰ دَ کَے دے یعنی ستاسو دا اراده ده چه فنا به په تاسو باندے نه راځی یعنی مرګ مو هم هیر کړیدے -

ف۱۳۰ :- دَ سرمایه دارئ سره دَ هغوی صفت دَ ظلم ذکر کوی یعنی سرمایه دار ظالم او ناترسه وی -

بَطَشَ ، را نیول بغیر دَ جرم نه او وژل ، بے عزته کول -

جَبَّارِيْنَ ، جبار هغه خوک دے چه دَ ځان دَپاسه هیڅ قانون نه منی خود سر او سرکش وی - دوی هم دَ الله تعالیٰ قانون نه منلو -

ف۱۳۱ :- دا تقویٰ او اطاعت په بارهٔ دَ احکامو کښ مراد ده -

ف۱۳۲ :- دا تذکیر دے په نعمتونو سره او بِمَا تَعْلَمُوْنَ کښ اجمال او ابهام دے اشارهٔ ده ډیر والی ته او تَعْلَمُوْنَ کښ اشارهٔ ده چه پوهیږئ چه دا نعمتونه دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دی -

أَمَدَّكُم بِأَنْعَامٍ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّاتٍ

زیاتی کړیدی تاسو لره څاروی او ځامن - او باغونه

وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ

او چینې - یقیناً زهٔ ویریږم په تاسو باندې دَ عذاب

يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوا سَوَاءٌ عَلَيْنَا

دَ ورځې لوئې نه - اُوئیل دوی برابره خبره ده په مونږ باندې

أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ الْوَاعِظِينَ ﴿١٣٦﴾

که وعظ کوې ته یا نه یې ته دَ وعظ کوؤنکو نه -

إِنْ هَٰذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا

نه دی دا مګر عادتونه دَ زړو خلقو دی - او نه یو

نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ

مونږ عذاب راکړې شوی - نو دوی دروغژن کړو هغه

۱۳۳، ۱۳۴ :- دا تفصیل دَ ما قبل دے - اشاره ده چه دوی ډیر څاګیر دار وؤ او اولاد (ځامن) ئې هم په کثرت سره وؤ -

۱۳۵ :- دا تخویف دے په عذاب سره دَ وجے دَ ناشکرئ دَ دغه نعمتونو نه -

۱۳۶ :- دا دَ هغوی جابریت او سرکشی ده چه نبی ته ئې اُوئیل ستا وعظ په مونږ باندې اثر نه کوی -

۱۳۷ :- هٰذَآ، اشاره ده عذاب ته یعنی (قحط وغیره) چه ته ئې عذاب ګڼړې دا عذاب نه دے دا سے عادات او ګردش دَ زمانے په مخکنو خلقو باندے هم راغلی دی - یا اشاره ده آبادئ او ظلمونو کولو ته چه دا زمونږ دَ مشرانو طریقه ده -

۱۳۸ :- یعنی دا عذاب نه دے (کوم قحطونه وغیره چه په مونږ باندے راځی) - یا دا چه په مونږ باندے هیڅ عذاب نشی راتللے ځکه چه

فَأَهْلَكْنٰهُمْ ؕ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَةً ؕ

پس هلاک کړل موږ دوی لره، یقیناً په دیکښې خامخا عبرت دے،

وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۱۳۹﴾ وَإِنَّ

او نه دی ډیر د دوی نه مؤمنان۔ او یقیناً

رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۴۰﴾

ستا رب خامخا هغه زورآور رحم کوونکے دے۔

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۴۱﴾ إِذْ قَالَ

دروغژن کړیوو ثمودیانو پیغمبرانو لره۔ کله چه اوئیل

لَهُمْ أَخُوهُمْ صٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۴۲﴾

دوی ته ورور د دوی صالح علیه السلام آیا ځان نه بچ کوئ د عذاب نه۔

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۴۳﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

یقیناً زهٔ تاسو لره رسول امانتدار یم۔ نو اویریږئ د الله تعالیٰ نه

وَأَطِيعُونِ ﴿۱۴۴﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ

او تابعداری کوئ زما۔ او زهٔ نه غواړمه ستاسو نه په دے باندے هیڅ

أَجْرٍ ۚ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿۱۴۵﴾ ؕ

بدله نه ده بدله زما مګر په رب العالمین باندے ده۔

دیر قوت والا یو۔

۱۳۹، ۱۴۰۔ اشاره ده چه سبب د هلاکت تکذیب دے۔ او نوره تشریح مخکښې تیره شوې ده۔

۱۴۱ نه تر ۱۴۵ پورے په دے آیاتونو کښې پنځمه واقعه ده د قوم د صالح علیه السلام چه ثمودیان دی۔ او د دے نبی په بیان کښې هم پنځه خبرے دی تشریح ئے مخکښې شوې ده۔

أَتُتْرَكُوْنَ فِيْ مَا هٰهُنَآ اٰمِنِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ فِيْ جَنّٰتٍ

آيا تاسو به پريخودلے شئ په هغه نعمتونو کښ چه دلته دی امن والا. په باغونو کښ

وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۴۷﴾ وَّزُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ طَلْعُهَا

او چينو کښ. او فصلونو کښ او کجورو کښ چه غنچکونه د هغے

هَضِيْمٌ ﴿۱۴۸﴾ وَتَنْحِتُوْنَ مِنَ الْجِبَالِ

تازه (نرم) دی. او کنستل کوئ تاسو د غرونو نه

بُيُوْتًا فٰرِهِيْنَ ﴿۱۴۹﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

کوټے بے فائدے. پس اويريږئ د الله تعالىٰ نه

۱۴۶ :- دا قوم هم جاگيردار او صنعتکار وو او دا ئے سبب د امن د عذاب نه گنړلو په دے وجه زجر ورکوی.

مَا هٰهُنَآ ، هغه نعمتونه چه ستاسو په دے وطن کښ دی نو مَا موصوله دے هٰهُنَآ صله ده دا اجمال دے.

۱۴۷ ، ۱۴۸ :- دا تفصيل دے د نعمتونو هر کله چه دوی جاگيرداروو يعنی جائيداد او زمکے ئے ډيرے وے د دے وجے نه زُرُوْعٍ وَّنَخْلٍ ئے ذکر کړو.

طَلْعٌ ، اول چه د اونے د کجورے نه د څانګو په ويخونو کښ کسوره غوندے را ښکاره شی چه په هغے کښ دانه تړو تړو دانو ويبے وی هغه کسوړے ته طلع وئيلے کيږی او دا رنګ دانه وږی ته هم طلع وئيلے کيږی دلته دويمه معنیٰ مراد ده.

هَضِيْمٌ ، ترم ، چه يو بل سره پيوست وی او چه کوټے ورته نزدے کوے نو دوړيږی. او قرطبی د ماوردی نه دولس اقوال د دے په معنیٰ کښ نقل کړيدی.

۱۴۹ :- دا زجر دے د هغوی په بے فائدے او بے ضرورته صنعتکارئ د کلتو باندے په دے زمانه کښ هم په ډيرو وطنونو کښ دا کارونه شروع دی.

وَاَطِيْعُوْنِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيْعُوْٓا اَمْرَ

او زما تابعداري اوکړئ. او تابعداري مه کوئ د طريقے

الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٥١﴾ الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ

د تيرو تونکو د حد نه. هغه کسان چه وران کوي

فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوْٓا

په ملک کښ او اصلاح نه کوي. اُوئيل دوي

اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿١٥٣﴾ مَآ اَنْتَ

يقيناً ته د جادو کړيشوؤ نه يې. نه يې ته

اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۚ فَاْتِ بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ

مګر بنده يې زمونږ پشان، پس راوړه ته يو نخه که چرے ته

مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٥٤﴾ قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ

د رشتينو نه يې. اوئيل هغۀ دا اوښه ده

فَارِهِيْنَ، خپل مهارت ښکاره کوونکی، لويي کوونکی، عبث کار کوونکی، بے خوفه بے خطره.

نسلا. دا دويم کرت تقوٰی او اطاعت په اعمالو کښ مراد دے.

سلا، سلا۱۵۲: د صالح عليه السلام په مقابله کښ نهه کسان په معاشان ووُ او د هغۀ د قوم د پاره پيشوايان ووُ د صالح عليه السلام د تابعدارۍ نه يې منع کوله او خپل اطاعت ته يې خلق رابلل نو په دے آيا تونو کښ د هغوي د اطاعت نه منع کوي او د هغے درے وجے ذکر کوي.

ع۱ اسراف، ع۲ فساد، ع۳ عدم اصلاح.

سلا۱۵۳، سلا۱۵۴: په يکښ د انکار دوه وجے ذکر کړيدي. اَلْمُسَحَّرِيْنَ، اوله معنیٰ دا چه په تا باندے سحر کړيشويدے اشاره ده چه سحر ډير زور علم دے يا دا چه (ته ترېخے والا يې) خوراک او څښاک ته محتاج يې. دويم دا چه ته زمونږ پشان بشر يې. بيا يې مطالبه د معجزے کړيده.

لَهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿١٥٥﴾

دے لرہ نمبر د اوبو دے او تاسو لرہ نمبر د اوبو د ورځے معلوے دے.

وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ فَيَاْخُذَكُمْ

او مه رسوئ دیته هیڅ تکلیف پس اوبه نیسی تاسو لره

عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥٦﴾ فَعَقَرُوْهَا

عذاب د ورځے لوے - پس دوی پریکړل اندامونه د هغے

فَاَصْبَحُوْا نٰدِمِيْنَ ﴿١٥٧﴾ فَاَخَذَهُمُ الْعَذَابُ

پس شول دوی پښیمانه - پس اونیوو دوی لره عذاب،

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ

یقینًا په دے کښ شته عبرت، او نه دی ډیر د دوینه

مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٥٨﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ

مؤمنان - او یقینًا رب ستا خامخا هغه زورآور

٨ ع ٩ ١٢ الرَّحِيْمُ ﴿١٥٩﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوْطِ

رحم کوؤنکے دے - دروغژن کړل قوم د لوط علیه السلام

ف١٥٥ :- د معجزے مطالبه پوره شوه د ګټے نه ورله اوښه راپیدا کړله او د دوی چینه د اوبو وه چه د هغے نه به یے ښاروی او به کول د هغے نمبریے ورسره مقرر کړو.

ف١٥٦ :- دا ذکر د ادب د معجزے دے او بے ادبی د هغے سبب د عذاب دے.

ف١٥٧ :- دا نهایت بے ادبی او هتک د هغے وو چه د حلالولو په ځائے ټکړے ټکړے کړه. نٰدِمِیْنَ، پښیمانه شول په وخت د راتلو د عذاب کښ او د هغه وخت توبه نه قبلیږی.

ف١٥٨، ف١٥٩ :- عذاب د هغوی په سورة اعراف او سورة هود کښ ذکر کړے شوے دے.

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ
رسولانو لره - کله چه اُوئیل دوی ته ورور (خیرخواه) د دوی
لُوطٌ أَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٦١﴾ إِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ
لوط علیه السلام آیا تاسو نه یئ کوئ دعذاب نه - یقیناً زه تاسو لره رسول
أَمِيْنٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيْعُوْنِ ﴿١٦٣﴾
امانتداریم - پس اوبریږئ د الله تعالی نه او زما تابعداری کوئ -
وَمَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ
او نه غواړم ستاسو نه په دے باندے هیڅ بدله نه ده
أَجْرِيَ إِلَّا عَلٰى رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٤﴾
بدله زما مګر په رب العالمین باندے ده -

سنا نه تر سنا پورے شپږمه قِصّه ده د قوم د لوط علیه السلام - په دیکښ پنځه امور ذکر کړیدی - دا دلیل دے چه لوط علیه السلام د نورو انبیاؤ پشان د توحید او د اطاعت خپل قوم ته دعوت کړیوؤ او د شرک او کفر نه ئے منع کړیوه -

فائده :- سورة اعراف کښ د لوط علیه السلام په باره کښ أَخُوْهُمْ نه دے ذکر کړے ځکه چه هلته د أخٌ نه مراد قومی ورورولی ده او لوط علیه السلام د هغه قوم نه نهٔ وؤ او په دے سورت کښ أَخُوْهُمْ ذکر کړے دے ځکه چه دلته مراد د ورور نه خیرخواه او ناصح دے او هر پیغمبر د خپل قوم خیرخواه وی - او بله وجه دا هم وئیلے شویده چه د دے قوم سره ئے سخرګنئ وه د دے وجے نه دلته دا ورورولی مراد ده -

أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۶۵﴾

آیا تاسو بدکاری کوئ د نارینو سره د خلقو نه.

وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ

او پریږدئ هغه چه حلال کړیدی تاسو لره رب ستاسو د

أَزْوَاجِكُمْ ۗ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ ﴿۱۶۶﴾

بیبیانو ستاسو نه، بلکه تاسو قوم یئ د حد نه تیرونونکی.

قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهِ يٰلُوْطُ لَتَكُوْنَنَّ

دوی اُوئیل که چرے منع نه شوئ ته اے لوط خامخا شے به ته

مِنَ الْمُخْرَجِيْنَ ﴿۱۶۷﴾ قَالَ إِنِّيْ لِعَمَلِكُمْ

د ویستلے شوؤ نه. اُوئیل هغه یقیناً زه ستاسو عمل لره

مِّنَ الْقَالِيْنَ ﴿۱۶۸﴾ رَبِّ نَجِّنِيْ وَأَهْلِيْ

د بدګنړونکو نه یم. اے ربه زما بچ اوساتئ ما لره او کورنئ زما

۱۶۵، ۱۶۶:- د شرک نه علاوه هغه قوم د نارینو په بدکارئ کښې اخته شوے وؤ او خپلے ښځے یئے پریخودلے وے او نورے بد اخلاقئ د مارغانو ساتل د هغے جنګول او میلمنو پورے مسخرے کول په اسے عملونو کښې اخته شوے وؤ. په أَنْتُمْ قَوْمٌ عٰدُوْنَ، کښې دیته اشاره ده چه دغه د عدوان کار دے نه دی. نو پس دے آیاتونو کښې هغوی لره زورنه ورکوی.

۱۶۷:- دا دیاؤ وؤ د دے قوم د طرف نه لیکن د بے غیرتئ د وجے نه داسے نشی وئیلے چه مونږ به تا اوباسو بلکه وائی چه څوک به دے اوباسی.

۱۶۸:- انبیاء علیهم السلام د چا په دیاؤ سره حق نه پریږدی.

الْقَالِيْنَ، د قلی نه اخستے شویدے لکه مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰی (سورة الضحیٰ ۳) او قلی بُغض او نفرت کول او بدګنړلو ته که طبعًا دی او که شرعًا وی هم وئیلے کیږی.

مِمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٦٩﴾ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗٓ

دَ سزا دَ هغه عمل نه چه دوی ئې کوی. پس بچ کړو موږ دے او دَ دهٔ کورنئ

اَجْمَعِيْنَ ﴿١٧٠﴾ اِلَّا عَجُوْزًا فِى الْغٰبِرِيْنَ ﴿١٧١﴾

ټوله. مګر بوډئ په پاتے کیدونکو کښ وه.

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿١٧٢﴾ وَاَمْطَرْنَا

بیا هلاک کړل موږ نور خلق. او باران اوورولو موږ

عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ

په دوی باندے ناآشنا باران بد دے باران

الْمُنْذَرِيْنَ ﴿١٧٣﴾ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ

ویره ورکړے شوؤ. یقیناً په دیکښ خامخا عبرت دے،

وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٧٤﴾ وَاِنَّ

او نه دی ډیر دَ دوی نه مؤمنان. او یقیناً

رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿١٧٥﴾

ستا رب خامخا هغه زورآور رحم کوونکے دے.

س ۱۶۹ نه تر س ۱۷۵ پورے. په ظاهر کښ دُعاء دَ نجات ده دَ خپل ځان او اهل دَ پاره او په حقیقت کښ دعاءِ شر ده په قوم باندے هر کله چه دَ هغوی دَ ایمان نه نا امیده شو.

عَجُوْزًا، سره ئې تعبیر اوکړو اشاره وه چه دا تر آخر عمر پورے په شرک او په کفر کښ باقی وه.

الْغَابِرِيْنَ، هغه خلق چه په عذاب کښ پاتے شول تر همیشه پورے او دَ دینه معلومه شوه چه په قوم لوط (علیه السلام) کښ مرض دَ شرک وؤ او هغه سبب وؤ دَ پاره دَ عذاب دَ دغه زنانه.

فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ، کښ اشاره ده چه دَ دے قوم هیڅ عذر نهٔ وؤ

كَذَّبَ أَصْحٰبُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ

دروغژن کړل بڼ والو پیغمبرانو لره. هر کله چه

قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّيْ

اُوئیل دوئ ته شعیب علیه السلام آیا ځان دعذاب نه نهٔ بچ کوئ. یقیناً زهٔ

لَكُمْ رَسُوْلٌ أَمِيْنٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

تاسو لره رسول امانتدار یم. نو او یریږئ د الله تعالیٰ نه

وَأَطِيْعُوْنِ ﴿١٧٩﴾ وَمَآ أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ

او تابعداري زما کوئ. او زهٔ نه غواړم ستاسو نه په دے باندے

مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلٰى

هیڅ بدله نه ده بدله زما مګر ده په

رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٨٠﴾ أَوْفُوا الْكَيْلَ

رب العالمین باندے. پوره کوئ پیمانه

ځکه چه دوی ته پوره انذار کړے شویوؤ.

سلکا نه ترسلا پورے په یکښ اوومه قصّه ذکر ده دَ شعیب علیه السلام او قوم دَ هغهٔ اصحاب الایکة. غوره داده چه دا بل قوم دے سوا دَ اصحاب مدین نه ځکه دَ دوی عذاب هم جدا دے دَ عذاب دَ مدین والو نه. شعیب علیه السلام هم پنځه خیرے ذکر کړے دی.

فائده:- دَ شعیب علیه السلام په باره کښ اَخُوْهُمْ نه دے وئیلے ځکه چه دے دَ اصحاب الایکه قومی ورور نه وؤ بلکه دَ مدین والو ورور وؤ او که دَ خیرخواه په معنیٰ سره ئے ذکر کړے وے نو التباس او اشتباه پیدا شویوے چه شاید دے ئے قومی ورور وؤ ځکه چه دَ دهٔ په باره کښ سورة اعراف کښ اَخُوْهُمْ وئیلے وؤ.

وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿۱۸۱﴾ وَزِنُوا

او مهٔ کیږئ دَ کمے کوؤنکو نه ـ او تول کوئ

بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿۱۸۲﴾ وَلَا تَبْخَسُوا

په تله برابر سره ـ او مهٔ ټیمګړے کوئ

النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي

دَ خلقو نه مالونه دَ هغوی او مه ګرځئ په

الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۱۸۳﴾ وَاتَّقُوا الَّذِي

ملک کښ فساد کوؤنکی ـ او اوبیریږئ دَ هغهٔ ذات نه

خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۸۴﴾ قَالُوا

چه تاسو ئے پیدا کړی یئ او خلق مخکنی ـ دوی اُوئیل

۱۸۱، ۱۸۲، ۱۸۳:۔ قوم دَ شعیب علیه السلام سرهٔ دَ شرک کولو نه په تجارت کښ ظلم کوؤ دَ مال دَ کټلو دَپاره دَ خیانت طریقے ئے اختیار کړے وے دَ دے وجے نه شعیب علیه السلام دَ اصلاح کولو کوشش کوؤ ـ تشریح دَ دے په سورهٔ اعراف او سورهٔ هود کښ تیره شوے ده۔
قِسْطَاسِ، عربی لفظ دے دَ قسط نه اخستلے شوے دے او رومئ ژبه کښ هم استعمالیږی ـ په عربئ ژبه کښ تلے (میزان) ته وائی او په رومئ ژبه کښ عدل ته وئیلے شی ـ
۱۸۴:۔ دَ دے امر دَ تقوٰی نه مراد تقوٰی ده په اعمالو کښ او دَ خیانتونو دَ مالونو نه ـ بچ کیدل ـ
الجِبِلَّةَ، جمع ده په معنیٰ کښ دَ دے وجے نه صفت ئے جمع ذکر کړے شوے دے ډیرو خلقو ته وئیلے کیږی او هر کله چه دَ دهٔ قوم نه وړاندے ډیر قومونه (چه په دے سورت کښ ذکر شول) تیر شوی وو دَ دے وجے نه شعیب علیه السلام دَ هغوی مخلوقیت په دلیل کښ ذکر کړو ـ

إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ أَنتَ

یقینًا ته دَ جادو کړو شوو نه یې. او نه یې ته

إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ

مګر بنده یې زموږ په شان او یقینًا ګمان کوو موږ په تا باندې خامخا دَ

الْكَٰذِبِينَ ﴿١٨٦﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا

دروغژنو نه. نو راوغورځوه په موږ ټکړې

مِّنَ السَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾

دَ آسمان که چرې ته یې دَ رښتینو نه.

قَالَ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾

اُوئیل هغه رب زما ښه پوهیږي په هغه عملونو باندې چه تاسو یې کوئ.

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ

پس دوی هغه ته دروغژن اُوئیل نو اونیولو دوی لره عذاب دَ ورځې دَ وریځې،

إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ

یقینًا دا دے عذاب دَ ورځې لوے. یقینًا

ف ١٨٥، ف ١٨٦ :- په یکښ درے اعتراضونه دي دَ طرف دَ منکرینو نه. اول دے دَ مسحرینو نه دے دویم دے بشر دے دریم دے دروغژن دے.
ف ١٨٧ :- په یکښ طلب دَ عذاب دے او دا مبالغه ده په تکذیب کښ.
ف ١٨٨ :- اشاره ده چه عذاب زما په اختیار کښ نشته الله تعالیٰ ستاسو په عملونو خبر دے چه دا سبب دَ استحقاق دَ عذاب دے.
ف ١٨٩، ف ١٩٠، ف ١٩١ :- اکثر مفسرینو ذکر کړي دي چه په دوی باندے سخته ګرمي مسلط شوه میوه او سورے او اوبه ورته نه ملاویدلے ناساپه دَ وریځې سورے په دوی باندے راغے دوی دَ هغې دَ لاندے راجمع شول نو دَ هغې نه په دوی باندے اُور راؤوریدو معلومه شوه

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَمَا كَانَ اَكْثَرُهُمْ
په دیکښ خامخا عبرت دے ، او نه دی ډیر د دوئ نه
مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٠﴾ وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيْزُ
مؤمنان . او یقینًا ستا رب خامخا هغهٔ زورآور
الرَّحِيْمُ ﴿١٩١﴾ وَاِنَّهٗ لَتَنْزِيْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٩٢﴾ ؕ
اورحم کوؤنکے دے ۔اویقینًا داقرآن خامخا نازل کړیشویئ د رب د مخلوقاتو نه ۔
نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ﴿١٩٣﴾ عَلٰى قَلْبِكَ
راکوزشویدے پدهٔ سره روح امانت دار . ستا په زړه باندے

چه اصحاب الأیکه د مدین والو نه غیر وؤ ځکه چه په هغوی باندے عذاب د رجفه اوصیحه راغلے وؤ او هرکله چه دوی طلب د عذاب د آسمان د طرف نه کړے وؤ نو الله تعالیٰ وریاندے عذاب د ظلة د بره طرفنه راولیږلو۔

۱۹۲ :۔ خلاصه :۔ د دے آیت نه دریم باب د سورت دے تر آخر د سورت پورے پدیکښ صدق د رسول او د کتاب دے په لس وجهو سره بیا تخویف دنیوی او زجر دے بیا جوابونه دی د دوؤ شبهو په رسالت باندے او په مینځ کښ پنځه امور دی د پاره د داعی او اختتام دے په تخویف دنیوی سره۔

ربط :۔ هرکله چه د قصو مخکنو نه معلومه شوه چه تکذیب د رسولانو سبب د عذاب دے نو صدق د دے رسول او بیا تخویف د عذاب منکرینو ته ذکر کوی د پاره د دے چه تکذیب نه توبه اوباسی ۔

تفسیر :۔ پدے اته آیاتونو کښ لس وجوهات ذکر کوی د پاره د صدق د رسول او د قرآن پدے ۱۹۲ کښ دوه وجوهات دی . تَنْزِيْلُ ، او نسبت رب العالمین ته۔

۱۹۳ :۔ پدے آیت کښ دریمه وجه ده . الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ، نه مراد جبرائیل علیه السلام دے دلته کښ د قرآن صدق ۔۔۔ او امانت ثابتول

لِتَكُونَ مِنَ الْمُنْذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ

دَ دے دَپارہ چہ تہ شے دَ ویرہ ورکوونکو نہ۔ پہ ژبہ عربی

مُّبِينٍ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾

ښکارہ۔ او یقینًا دا قرآن (خبر دَ دے) خامخا پہ کتابونو دَ مخکنو کښ دے۔

أَوَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ آيَةً أَنْ يَعْلَمَهُ

او آیا نښتہ دوی لرہ نخښہ چہ پوهیږی ردَ دۀ پہ صداقت پاندے)

عُلَمَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوْ نَزَّلْنَاهُ

عالمان دَ بنی اسرائیلو۔ او کہ چرے نازل کړے وے مونږ دا کتاب

مقصد دے دَ دے وجے نہ دَ جبرائیل صفت ئے پہ الامین سرہ ذکر کړے دے او پہ کوم ځائے کښ چہ دَ قرآن نہ اعتراض دفع کول مقصد وی یعنی دَ قرآن تقدس ثابتہ وی نو هلتہ دَ جبرائیل صفت پہ القدس سرہ ذکر کیږی۔

۱۹۴:۔ پہ دے آیت کښ څلورمہ او پنځمہ وجہ ذکر کړے شویدہ انزال پہ زړہ باندے او فائدہ دَ انذار۔

۱۹۵:۔ پہ دے کښ شپږمہ او اوومہ وجہ او پورہ وضاحت او فصاحت ئے ذکر کړے دہ او عربی لغت مُّبِينٍ کښ اشارہ دہ نهایت فصاحت او بلاغت دَ قرآن تہ۔

۱۹۶:۔ پہ دے آیت کښ اتمہ وجہ ذکر دہ مراد دا دے چہ خبر دَ دے قرآن پہ مخکښ کتابونو کښ شتہ یا تصدیق دَ دے پہ مخکنو کتابونو کښ شتہ یا مضمون دَ دے قرآن پہ مخکنو کتابونو کښ هم شتہ اوچاچہ وئیلی دی چہ نفس قرآن پہ مخکنو کتابونو کښ شتہ بغیر دَ دے الفاظو نہ نو معلومہ شوہ چہ قرآن نوم دَ معنیٰ دے دا قول باطل دے امام ابوحنیفہ هم دَ دے قول نہ رجوع کړیدہ۔

۱۹۷:۔ پہ دیکښ نهمہ وجہ دَ صدق دَ قرآن دہ چہ علماء دَ بنی اسرائیلو هم دَ دے پہ صدق باندے عالم او شاهد وو۔

عَلٰى بَعْضِ الْاَعْجَمِيْنَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَاَهٗ عَلَيْهِمْ

په بعضے عجمیانو باندے - پس لوستلے به ئے دا پر دوی باندے

مَّا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ ﴿١٩٩﴾ كَذٰلِكَ سَلَكْنٰهُ

نهٔ وو دوی په دهٔ باندے ایمان راوړونکی - دغسے ورننه باسو موږه

فِيْ قُلُوْبِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٠٠﴾ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ

په زړونو د مجرمانو کښ - نه راوړی دوی ایمان پدے قرآن

حَتّٰى يَرَوُا الْعَذَابَ الْاَلِيْمَ ﴿٢٠١﴾

تر دے پورے چه اُوینی دوی عذاب دردناک لره -

فَيَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿٢٠٢﴾

پس راشی دوی ته ناګهه او دوی به نه پوهیږی -

۱۹۸ ، ۱۹۹ :- په دے آیتونو کښ لسمه وجه دهٔ چه عربیت دَ دے رسول دَ دوی دَ ایمان دَ پاره سبب بښکاره دے - او پدیکښ زجر هم دے چه سره دَ دیته چه په عجمی نه دے نازل شوے بیا هم دوی ایمان نه راوړی او په قراءت دَ عجمی سره دوی ایمان نه راوړی دَ وجے دَ تکبر او دَ تعصب نه یا دَ دے وجے نه چه عجمیت کښ دَ عربیت په شان کمال نشته دَ دے وجے نه آخری کتاب او رسول دَ پاره عربیت خاص کړے شو۔

۲۰۰ ، ۲۰۱ :- پدیکښ زجر دے په انکار دَ قرآن سره یعنی چه دَ اول نه مجرم وی په تکذیب یا په شک کولو سره نو دَ هغهٔ په زړه کښ انکار دَ قرآن داخل کړیشی نو بیا بالکل ایمان نه راوړی څو پورے چه عذاب ئے نه وی لیدلے یعنی دَ بو کفر نه بل کفر پیدا کیږی۔

سَلَكْنٰهُ ، نسبت الله تعالیٰ ته داسے دے لکه خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ کښ۔ او هٗ ضمیر انکاری ته راجع دے چه مَا كَانُوْا بِهٖ مُؤْمِنِيْنَ په هغے باندے دلیل دے۔

۲۰۲ ، ۲۰۳ :- دا تخویف دنیوی دے ۔ فَيَاْتِيَهُمْ جواب دَ لَا يُؤْمِنُوْنَ دے او اَنْ پکښ مقدر دے او دارنګ فَيَقُوْلُوْا هم په يَاْتِيَهُمْ

فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿۲۰۳﴾
نو وائي په دوی آيا مونږ له مهلت راکولے شي۔
أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿۲۰۴﴾ أَفَرَءَيْتَ
آيا عذاب زمونږ دوی په تادئ سره غواړي۔ آيا پس ته پوهه يې
إِن مَّتَّعْنَاهُمْ سِنِينَ ﴿۲۰۵﴾ ثُمَّ جَآءَهُم
که چرے مزے د دنيا ورکړو مونږ دوی لره څوکاله۔ بيا راشي دوی ته
مَّا كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿۲۰۶﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم
هغه عذاب چه دوی لره په هغے باندے وېره ورکيدے شي۔ دفع به نه کړی د دوی نه (دا عذاب)
مَّا كَانُوا يُمَتَّعُونَ ﴿۲۰۷﴾ وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن
هغه مزے چه دوی له ورکيدے شي۔ او نه دے هلاک کړے مونږ هيڅ
قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿۲۰۸﴾ ذِكْرَىٰ
کلے مگر هغے لره وېره ورکوونکي دی۔ د پاره د نصيحت
وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿۲۰۹﴾ وَمَا تَنَزَّلَتْ
او نه يو مونږ ظلم کوونکي۔ او نه دے کوز راوړے

باندے عطف دے نو منصوب دے۔
ف ۲۰۴:۔ دا مستقل زجر دے په استعجال د عذاب سره د تخويف نه۔
ف ۲۰۵، ف ۲۰۶، ف ۲۰۷:۔ دا جواب د استعجال دے حاصل دا دے چه عذاب
په دوی باندے که هر وخت راشي ليکن د دوی عمر او د دنيا
ساز وسامان دوی له هيڅ فائده نشي ورکولے نو بيا ولے استعجال
کوی په عذاب سره۔
ف ۲۰۸، ف ۲۰۹:۔ دا هم جواب د استعجال دے يعنی دوی عذاب غواړی
ليکن عادت الٰهيه دا دے چه رسول راشي او پوره انذار او کړی او
تذکير ورکړی روستو د هغے نه په سبب د انکار د دوی سره عذاب راځي۔

بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿۲۱۰﴾ وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ
دا قرآن شیطانانو ۔ او نه خائیږی ددوی د شان سره
وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۲۱۱﴾ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ
او نه دوی طاقت لری ۔ ځکه چه یقینًا دوی د اوریدلو نه
لَمَعْزُوْلُوْنَ ﴿۲۱۲﴾ فَلَا تَدْعُ مَعَ اللّٰهِ
خامخا شړلے کیږی ۔ نو مه رابله د الله تعالیٰ سره
اِلٰهًا اٰخَرَ فَتَكُوْنَ مِنَ الْمُعَذَّبِيْنَ ﴿۲۱۳﴾
چه اِله (حاجت روا) ئے گنړے بیا نو شے به د عذاب ورکړے شوؤ نه ۔

ذِكْرٰى یعنی یذکرون ذکریٰ ۔ یا دا مفعول له دے د پاره د مُنْذِرُوْنَ
یعنی اَلَّا تَذَّ اُرُ لِاَجْلِ التَّذْكِيْرِ ۔

۲۱۰ ، ۲۱۱ ، ۲۱۲ :۔ دا عطف په آیت ۱۹۲ باندے او پدے آیاتونو کښ جواب
دے د اولے شبهے په باره د رسول او د قرآن کښ دوی وئیل چه دا کاهن
دے او قرآن اخبار د کهانت دے (کاهن هغه څوک دے چه دعوٰی
کوی د علم د غیبو خبرو د تیرشوؤ یا راتلونکو په واسطه د جنّاتو
مسخر کړے شوؤ سره) ، د جواب حاصل دا دے چه کاهنانو له
خبرونه شیطانان (سرکش جنات) راوړی هر جنّی د هغهٔ تابع نه
وی او دا قرآن جبرائیل علیه السلام راوړے دے (لکه چه په ۱۹۳
کښ تیرشو) دا شیطانانو نه دے راوړے دا اول جواب دے ۔
دویم دا چه دا قرآن د صدق او د هدایت د وجے نه د شیطانانو سره مناسب نه دے
د شیطان خبرے او کار د دروغو او د گمراهئ وی ۔ او قرآن خو ټول رښتیا خبرے او د هدایت دی
دریم دا چه شیطانان د دے قرآن د راوړلو طاقت هم نه لری ځکه چه دوی مجلس د
ملائیکو ته غوږ نشی کیخودے بلکه زغلولے کیدیشی لکه سورة حجر ۱۸ کښ او سورة
صافات ۸ کښ دی ۔ اِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ ، دا علت د مایستطیعون دے ۔
فائدہ :۔ د سَمْع اثر مرتب دے په استماع باندے یعنی اگرچه دوی استماع کوی په
طریقه د اِسْتَرَقُ السَّمْعِ سره لیکن د اوریدلو نه او شړلے شی ۔
۲۱۳ :۔ دا بیان د فرق دے په مینځ د دعوت د شیطانانو او د مقصد د قرآن کښ ،

وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ

او اویره وه قبیله خپله نژدې (په نسب کښې) - او کوز ساته

جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾

وزر خپل هغه چاته چه تابعداري کوي ستا د ایمان والو نه -

یعنی شیطانان دَغیرالله نه حاجتونه غواړي او شرک کوي او شرک ته دعوت ورکوي او ته دَ قرآن دَ مقصد موافق دَغیرالله نه حاجات مه غواړه کله چه الله یئ او کنړې (یعنی واکدار دَ هر څه او غیبدان) یئ او کنړې او حاجات تر ینه غواړې دا خو شرک دے او سبب دَعذاب دے او قرآن خو دعوت دَ توحید ورکوي - خطاب په دے کښ پیغمبر ته دے لیکن مراد تر ینه امتیان دي - او دَ دے آیت نه تر ۲۲۰ پورے پنځه آداب دَ داعي دَحق دَپاره ذکر کوي په یکښ اول ادب دے چه داعي دِ دَ مشرکانو دَ تشبیه او دَعذاب دَ اسبابو نه ځان او ساتي -

۲۱۴ :- په دے کښ دویم ادب دَ داعي دَپاره ذکر کوي یعني صاف دعوت ورکول خپلے قبیلے او خپلوانو ته اګرچه مشران وي لوے نسب والا وي، دا دَ دے دَپاره چه نور خلق طعن او نکړي چه خپلوانو ته هیڅ نه وائي او مونږ ته مسئلے کوي - دویم دَ دے دَپاره چه خلق پوهه شي چه دے په دین کښ دَ خپل او لوے سړي لحاظ نه کوي - دریم چه خپلوان دَ دهٔ نه دا طمع او نه لري چه دے به زمونږ خبره او مني - بله خاصه وجه په دعوت دَ قریشو کښ دا ده چه په هغوي باندے دَ نورو خلقو اعتماد وؤ او دوي پشان دَ پیرانو وؤ او عام خلق دَ دوي مریدان او تابع وؤ او هر کله چه متبوع او پیر ایمان راوړي نو تابعدار او مریدان ضرور ایمان راوړي نو دوي ته دعوت ذریعه ده دَ دعوت دَعام کولو دَپاره -

۲۱۵ :- دا دریم ادب دے په پاره دَ ملګرو کښ چه داعي دِ دَخپلو ملګرو سره شفقت او نرمي کوي او دا سے سورۃ حجر ۸۸ کښ تیر شوي دي - دَ مرغانو عادت دے چه الوځي نو وزرے پورته کړي او کله چه کوزیږي نو وزرے ختته کړي نو دا کنایه ده دَ تواضع او انکسار نه دَ ملګرو

فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيٓءٌ مِّمَّا
نو که دوی ستا نافرمانی اوکړی نو ورته اووایه یقیناً زه بیزاره یم د هغه نه
تَعْمَلُونَ ﴿۲۱۶﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ
چه تاسو یئے کوئ۔ او تکیه او سپاره په زور آور
الرَّحِيمِ ﴿۲۱۷﴾ الَّذِي يَرَاكَ حِينَ
اورحم کوونکی باندے۔ هغه ذات دے چه وینی تا لره کوم وخت چه
تَقُومُ ﴿۲۱۸﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ﴿۲۱۹﴾
ته اودریږے۔ او اوړیدل ستا په سجده کوونکو کښ۔
إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿۲۲۰﴾ هَلْ
یقیناً الله تعالیٰ هغه هر څه آوری او په هر څه باندے پوهیږی۔ آیا

سره. دا رنګ چرګ د شفقت د وجے نه په خپلو بچو باندے وزرے خوروی۔
۲۱۶: دا څلورم ادب دے په باره د مخالفت کوونکو کښ یعنی څوک چه پیغمبر ته مخالفت کوی نو د هغوی نه براءت کول پکار دی او په اعلان براءت کښ مقصد دا دے چه څوک د دے جرم نسبت دا ته اونکړی۔
۲۱۷ نه تر ۲۲۰ پورے دا پنځم ادب دے یعنی هر کله چه د مخالفینو نه براءت کول ګران کار دے نو د هغے علاج توکل علی الله دے او د هغه پنځه صفات ئے ذکر کړیدی چه هغه دلیل د صحت او د حصر دے د توکل د پاره په الله تعالیٰ پورے۔
حِينَ تَقُومُ، هر قیام ته شامل دے او خصوصاً د خوب نه بیداری د پاره د عبادت د شپے۔
وَتَقَلُّبَكَ، حالت بدلیدل د قیام نه رکوع ته او د رکوع نه سجدے ته او سجدے نه قعدے ته او د قعدے نه قیام ته دا ټول اشاره ده اعمالو د مانځه ته۔

أَنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ الشَّيَاطِينُ ﴿٢٢١﴾

خبر درکړم تاسو لره په باره دَ هغه چاچه راکوزيږي په هغه باندے شيطانان۔

تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾

راکوزيږي په هر دروغژن گناهگار باندے۔

يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَاذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾

اچوي دوي (په غوږونو دَ کاهنانو کښې) آوريدلے شوے خبرے او ډير دَ دوي نه دروغژن دي۔

الشَّيَاطِينَ، نور ملګري مونږ کوؤنکي دَ جماعت يعني الله تعالیٰ عالم دے که دَ شپے مونځ کوے او که دَ ورځے او که يواځے مونځ کوے او که په جماعت سره يا مراد دَ دينه ګرځيدل دي دَ موحدينو سره او بعضې مفسرينو وئيلي دي چه مراد دَ دے پشت په پشت دَ نبي صلی الله عليه وسلم په مخکنو کښې دَ آدم عليه السلام نه تر پلار دَ هغه پورے په موحدينو کښې۔ ليکن په دے باندے اعتراضات دي او دا ضعيف قول دے۔

۲۲۱، ۲۲۲، ۲۲۳۔ اول ئې حال دَ شيطانانو بيان کړو بيائې حال دَ صالحينو بيان کړو نو اوس حال دَ ملګرو دَ شياطينو بيانوي او دَ جواب دَ شبهے تتمه ده حاصل دا چه ملګري دَ شيطانانو دروغژن گناهګار دي تلبيس دَ رشتيا او دَ باطلو کوي او دا پيغمبر او صحابه دَ دے صفاتو نه پاک دي نو څه رنګ شبهه کوئې۔

أَفَّاكٍ أَثِيمٍ، دا دَ کاهن صفتونه دي او دواړه صيغے دَ مبالغے دي په ډير والي باندے دلالت کوي۔

يُلْقُونَ السَّمْعَ، السمع په معنیٰ دَ مسموع دے مطلب دا دے چه کومه يوه خبره ئې دَ ملائيکو نه آوريدلے وي هغه دَ کاهن په غوږ کښې اوغورځوي او دا کاهن ورسره نور دروغ دَ ځان دَ طرف نه ګډ کړي نو هر کله چه دَ هغهٔ يوه خبره رشتيا معلومه شي نو خلق دَ هغهٔ دَ نورو دروغو تصديق کوي هم دا رنګ حديث صحيح کښې ذکر دي۔ يا السَّمْعَ په معنیٰ دَ غوږ دے يعني شيطانان ملائيکو ته غوږ کيږدي او دروغ خبرے ورسره ګډے کړي۔

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾ اَلَمْ تَرَ

او شاعران روان وي په هغوی پسې سرکشان خلق۔ آیا نه گورې

اَنَّهُمْ فِىْ كُلِّ وَادٍ يَّهِيْمُوْنَ ﴿٢٢٥﴾

چه دوی په هره کنده کښې گرځي ورځي گرځي۔

۲۲۴:۔ په دے آیت کښې دَ دویمے شبهے جواب دے منکرینو وئیل چه دا شاعر دے او دا قرآن دَ دهٔ اشعار دی او دَ منکرینو په نیز دا ثابته وه چه شاعر دروغو لره په شعر سره خائسته کوی او خلقو باندے اثر کوی۔ جواب ورکوی په درے طریقو سره پدے آیت کښې۔

اوله طریقه دَ جواب دا ده اِسْتِدْلَال بِالصَّاحِبِ وَالْقَرِيْنَ (مثال دے چه سړی ته مه گوره ملگری ته ئے اوگوره) یعنی دَ شاعرانو تابعدار او ملگری گمراهان، بد معاشان، فاسقان وی او دَ دے نبی صحابه سجده کوونکی، ژړا کوونکی، دنیا سره محبت نه کوونکی دی (دارنگ په تفسیر سراج المنیر کښې دی)۔

فائده:۔ هر کله چه دَ خائسته صفاتو دَ صحابو نه صدق دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندے استدلال اوکړے شو نو لازمی نتیجه دا ده چه څوک دَ صحابه کرامو بدی وائی او هغوی ته سبّ وشتم کوی نو هغهٔ دَ نبی تکذیب کوی۔

۲۲۵:۔ پدیکښې دویمه طریقه دَ جواب ده چه شاعران بے هوده کلام او متضاد خبرے کوی او دَ دنیا دَ لالچ دَ وجے نه دَ چا مدح او دَ چا هجوه کوی۔ او لفظ دَ يَهِيْمُوْنَ کښې تشبیه دوی ورکوی دَ اوښانو اوږو تږو سره چه هرے کندے او صحراء ته دَ خوراک څښاک په حرص کښې گرځي۔ او هر چه قرآن او دَ دے نبی صلی الله علیه وسلم حال دے نو دَ هدایت او دَ حکمت دَ خبرو نه ډک دے دنیا پرستئ او هوا پرستئ نه خالی دے۔

وَاَنَّهُمْ يَقُوْلُوْنَ مَا لَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۲۲۶﴾

او بقینًا دوی وائی هغه چه نه ئې کوی دوی۔

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

مگر هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عمل نیک کوی ربه تابعدارئ

وَذَكَرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّانْتَصَرُوْا مِنْۢ

دَسنت کښی) او یادوی الله تعالیٰ لره ډیر او بدل ئې واخستو

بَعْدِ مَا ظُلِمُوْا ۗ وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ

روستو دَ هغې نه چه په دوی باندې ظلم کړے شو ئې، او زر دے چه پوهه به شی هغه کسان

ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ ﴿۲۲۷﴾

11
ع
۳۶
۱۵

چه ظلم ئې کړیدے چه کوم اړخ ته دوی آړدی۔

ف۲۲۶:۔ په دے کښی دریمه طریقه دَ جواب ده چه دَ شاعرانو قول او عمل مختلف وی۔ دَ رسول دَ محبت شعرونه وائی او سیرت او صورت ئې دَ هغې نه خلاف وی نورو خلقو له دَ نیکو اعمالو او دَ سخاوت وغیره ترغیبونه ورکوی او پخپله پرے عمل نه کوی۔ او دَ دے نبی او دَ دهٔ دَ ملګرو قول او عمل بالکل یو شان دی۔

ف۲۲۷:۔ هر کله چه شاعرانو کښی صحیح مؤمنان هم شته لکه په صحابه کرامو رضی الله عنهم کښی حسان بن ثابت رضی الله عنه او نور هم، دَ دے وجے نه دَ هغوی استثناء کوی او څلور صفتونه ذکر کوی ۱ ایمان ۲ عمل صالح ۳ ذکر کثیر ۴ بدله او انتقام اخستل۔ یعنی دَ دوی اشعارو کښی ایمان او اعمالِ صالحو ته ترغیب وی او دَ الله تعالیٰ ثناء او حمد باندے مشتمل وی او هر کله چه کافران شاعران دَ نبی صلی الله علیه وسلم یا دَ مسلمانانو یا دَ اسلام هَجْوَ اوکړی نو دوی دَ پاره دَ انتصار دَ هغوی په هَجْوَ کښی جوابی اشعار وائی ځکه دا هم یو قسم جهاد باللسان دے ځکه چه مشهوره ده دَ ژبې زخم جوړیږی خو دَ

ژبے زخم نه جوړیږی - او په آخر دَ سورت کښ تخویف شدید دے ظالمانو شاعرانو او نورو منکرینو ته -
سَيَعْلَمُ ، کښ تهدید دے - اَلَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا ،کښ تعمیم دے آیَ کښ ابهام دے - مُنْقَلَبٍ کښ دَ دوی دَ نعمتونو او خوشحالو انقلاب ته اشاره ده چه دا به په غمونو سره بدل کړے شی ځکه چه لفظ دَ مرجع ، اکثر وئیلے کیږی واپس کیدل اول حال ته او لفظ دَ مُنْقَلَبٍ واپس کیدل دی بد حال ته . يَنْقَلِبُوْنَ ،کښ تجدّد دَ انقلاب ته اشاره ده چه حالت به ئے نوے نوے فساد او خرابئ طرف ته بدلیږی -

(ختم شو تفسیر دَ سورة الشعرآء په فضل دَ الله تعالی او په کرم دَ هغه سره)

سورة النمل مكية | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ٩٣ رکوعاتها : ٧

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

طٰسٓ قف ج تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ

دا آیاتونه د قرآن او د کتاب

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة النمل ، دویم نوم ئې سورة سلیمان دے

ربط :۔ د دے سورت د سورة شعراء سره دا دے ۔ ۱ چه په هغه سورت کښې اظهار د غضب او نعمت الهیه وؤ نو په دے سورت کښې اظهار د علم او د حکمت د الله تعالیٰ دے په مخلوق کښې ۔
۲ په هغه سورت کښې نقلی دلیلونه وؤ په توحید باندے نو په دے سورت کښې دوه علتونه ذکر کوی د پاره د رد د شرک ۔
۳ د هغه سورت په آخر کښې صدق د قرآن او د رسول ئې ذکر کړو په دفع کولو د شبهاتو سره نو په دے سورت کښې ترغیب ورکوی قرآن ته او نبی صلی الله علیه وسلم دویشت خطابات کوی ۔
دعویٰ د دے سورت :۔ اثبات د توحید د الوهیت د الله تعالیٰ دے په دوه علتونو سره ۔
اول علت دا دے چه ټول بزرګان بندګان سلامتیا او عافیت کښې الله تعالیٰ ته محتاج دی ۔
دویم علت دا دے علم د غیب په الله تعالیٰ پورے خاص دے او دا دواړه علتونه په ضمن د ګڼورو قصو کښې ذکر کوی او دا رنګ په عقلی دلیلونو سره په رد د الوهیت د غیر الله باندے او ماخذ د دے دعوے د ۵۸ نه تر ۶۳ پورے او په ۵۹ ، ۶۵ کښې دے ۔
خلاصه :۔ د دے سورت دا ده چه دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته ۔
اول باب، تر ۶ پورے دے په دے کښې ترغیب دے قرآن کریم

مُّبِيْنٍ ① هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ②

بښکاره کوونکی (د حق او باطل) دی هدایت دے او خوشحالی ده د پاره د مؤمنانو.

الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ

هغه کسان دی چه پابندی کوی د مانځه او ورکوی

الزَّكٰوةَ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ③

زکوٰة او دوی په آخرت کښ هم دوی یقین لری.

ته په ذکر د خلور وصفاتو د قرآن او خلور صفات د اهلِ قرآن او زجر دے منکرینو د قرآن ته او تخویف اخروی او تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته.

تفسیر:- ۱ :- دا د مقطعاتو نه دے او کیدیشی چه ط اشاره وی حکمتونو ته چه په طور کښ ئے موسیٰ علیه السلام ته ورکړے وُو او هغه سبب او کرځیدو د پاره د سقوط د فرعون چه غیر شرعی سیاست او حکومت ئے کوؤ. او س اشاره وی حکمتونو د سلیمان علیه السلام ته چه تعلق لری د شرعی سیاست سره - او میم پدے سورت کښ ئے نه دے ذکر کړے ځکه چه احوال د محمد صلی الله علیه وسلم ئے په دے سورت کښ په اختصار سره ذکر کړے دی او بیا پدیکښ ترغیب دے قرآن کریم ته او پدے کښ ئے دوه اوصاف ذکر کړے دی. اول الکتاب اشاره ده جامعیت د دینه. دویم مُّبِيْنٍ سره د جامعیت نه وضاحت د مقاصدو ته اشاره وه.

۲ :- پدیکښ نور دوه صفتونه د قرآن ذکر دی هدایت دے عظیم مقصدونو ته - او پدے سره خفگان او تکلیف نه زیاتیږی بلکه بُشْرٰی دے یعنی مؤمنانو لره خوشحالی زیاتوی - او یو صفت د اهلِ قرآن ذکر کوی. لِلْمُؤْمِنِيْنَ ، اشاره ده چه دغه فائدے مؤمنانو ته ښکاره کیږی.

۳ :- درے صفتونه ئے د اهلِ قرآن ذکر کړیدی چه دا صفتونه په ایمان بالقرآن سره پیدا کیږی.

إِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ

یقیناً هغه کسان چه ایمان نه راوړی په آخرت باندے

زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَالَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ﴿۴﴾

خائسته کړیدی مونږ دوی ته عملونه د دوی نو دوی ګمراه وړ دی.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوءُ الْعَذَابِ

دا هغه کسان دی چه دوی له ناکاره عذاب دے

وَهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ﴿۵﴾

اودوی به په آخرت کښ، هم دوی تاوان والا وی.

وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِن لَّدُنْ

اویقیناً ته خامخا خودلے شې تاته قرآن د طرف

ف۴:۔ په دے کښ زجر دے منکرینو ته چه انکار د آخرت نه سبب دے د اعمالو قبیحو (مخالف د صفاتو د اهلِ قرآن نه) او اعمالِ قبیحه سبب دے د عمه یعنی پریشانی د ژوند دنیوی.

زَيَّنَّا لَهُمْ، نسبت د زینت الله تعالیٰ ته په اعتبار د خلق سره دے د پاره د ابتلاء او کله نسبت د دے شیطان ته کیدیشی په اعتبار د وسوسے د هغه سره.

أَعْمَالَهُمْ، نه مراد ناکاره عملونه او بدعات دی.

ف۵:۔ په دے کښ تخویف دے دنیوی او اخروی منکرینو ته.

سُوءُ الْعَذَابِ، د دے وجے نه چه اعمال یے سیئه دی.

او الْأَخْسَرُونَ، د دے وجے نه چه هغے اعمالو سیئو ته ښه کارونه وائی او ځان پکښ کړا دی.

حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ ⑥ اِذْ قَالَ مُوْسٰى

دَ حکمت والا او په هرڅه پوهيدونکي ذات نه - کوم وخت چه اوئيل موسٰی عليه السلام

لِاَهْلِهٖٓ اِنِّيْٓ اٰنَسْتُ نَارًا ۭ سَاٰتِيْكُمْ

خپل کور والا ته يقيناً ما ليدلے دے اور، زر ده چه راوړم تاسو ته

مِّنْهَا بِخَبَرٍ اَوْ اٰتِيْكُمْ بِشِهَابٍ

دَ هغې نه خبر (دَ لارے) يا به راوړم تاسو ته شغله ليت

قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ⑦ فَلَمَّا

بل کړے دَ دے دَ پاره چه تاسو تاوده شئ - پس هر کله چه

سلہ :- دا متعلق دے دَ اول آيت سره او په دے کښې تسلی او تشجيع ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په بيانولو دَ قرآن په تاکيد سره۔ لَتُلَقَّى کښې اول تاکيد دے يعنی قرآن راځي تا ته دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او ته ئے قبلوے په مضبوطيا سره۔ بل تاکيد دا دے مِنْ لَّدُنْ دَ مينځ نه - واسطه دَ جبرائيل ئے حذف کړله - او خبره دَ رسول خو کلام دَ مرسِل وی۔

حَكِيْمٍ عَلِيْمٍ، دا نور تاکيدات دی او دا تمهيد دے دَ راتلونکو واقعاتو دَ پاره چه په دغه واقعاتو کښې حکمتونه دی او دَ علمونو دَ الله تعالیٰ مظهر دے او دا په دے سورت کښې اول خطاب دے نبی صلی الله عليه وسلم ته۔

سکے :- خلاصه :- دَ دے آيت نه دويم باب دے تر سلہ پورے په دے کښې واقعه دَ موسٰی عليه السلام او سليمان عليه السلام کښې لوے حکمت ته اشاره کوی چه دوی په غيبو باندے علم نه لرلو او واقعه دَ صالح عليه السلام او دَ لوط عليه السلام کښې لوے حکمت ته اشاره ده چه دوی او دَ دوی تابعداران راګر چه دا لوی بزرګان دی) په سلامتيا او عافيت کښې الله تعالیٰ ته محتاج وو۔

تفسير :- دَ دے آيت سکے نه تر سلہ پورے اوله قصه دَ موسٰی عليه

جَآءَهَا نُوْدِيَ اَنْ بُوْرِكَ مَنْ

راغے موسیٰ هغے ته آواز ورکړے شو چه برکت ورکړے شو یدے هغه چاته چه

فِی النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَسُبْحٰنَ

په طلب دَ دے اُور کښ دے او هغه څوک چه دَ دے چاپیره دی، او پاکی ده

اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۞ یٰمُوْسٰۤی

الله تعالیٰ لره چه رب العالمین دے - اے موسیٰ

السلام ذکرکوی او په هرآیت کښ حکمتونه دی او هرکله چه سورة الشعراء کښ ابتدا دَ دے قصے نه وه ذکرکړے نو په دے آیاتونو کښ ابتداء دَ قصے ذکرکوی۔

په دے آیت کښ بعضے حکمتونه دا دی - ۱ دَ موسیٰ علیه السلام اهل وعیال وو۔ ۲ سفر دَ اهل سره جائز دے - ۳ غیب دان نه دے ځکه نُور ته ئے نار اُوئیلو - ۴ دَ اُور والو نه استفاده کول په خبر دَ لارے - ۵ دَ اُور نه استفاده کول دَ پاره دَ دفع دَ یخنئ -

بِشِهَابٍ قَبَسٍ، شهاب رنړا ته وئیلے کیږی او قَبَس، بَل لیتکی ته وائی یعنی شغله دَ بل لیتکی به راؤړم -

ف :- حکمتونه په یکښ ۱ سفر دَ موسیٰ علیه السلام سبب شـو دَ حصول دَ برکاتو الهیو دَپاره -

۲ موسیٰ علیه السلام او ملائیک په برکاتو کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی ځکه مجهول صیغه ئے ذکرکړیده لیکن فاعل معلوم دے دَ سورة فرقان نه -

۳ او ندا او کلام دَ الله تعالیٰ دَ مخلوق دَ مشابهت نه منزه (پاک) دے ځکه ئے سُبْحٰنَ اللّٰهِ اُوئیل -

۴ او تنزیه (پاکوالے) دَ الله تعالیٰ ذاتی او فعلی دواړه ده ځکه ئے الله او رب دواړه صفتونه ذکرکړل -

اَنْ بُوْرِکَ، دا سلام او ترحب دے دَ الله تعالیٰ دَ طرفه موسیٰ علیه السلام ته -

إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٩﴾

یقینًا زهٔ الله یم زورآور او حکمتونو والا۔

وَأَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ

او اوغورځوه همسا خپله ، نو هر کله چه اولیده هغه خوزیدله زر زر

كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ

گویا که چهچمار دے اوگرځیدلو شا کوونکے او نه

يُعَقِّبْ ۚ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّى

راگرځیدلو بیرته (اوئیل موښږ) اے موسٰی مه یریږه یقینًا

مَنْ فِى ٱلنَّارِ، هغه څوک چه په ځائے دَ اُورکښ دے یا په طلب دَ اُورکښ دے۔ لیکن په اعتبار دَگمان دَ موسٰی علیه السلام ئے ورته نار اُوئیل او مراد دَنار نه نور دے او دا موسٰی علیه السلام دے۔

وَمَنْ حَوْلَهَا ، مراد دَ دے نه ملائیک دی چه دَ الله تعالیٰ په اذن سره دغه نور ته راجمع کړے شوے دی۔

ف۹ : حکمتونه دا دی ۔ ع۱ مرحبا او سلام نه روستو تعارف کیږی۔

ع۲ او دَ سلام نه روستو کلام دے۔

ع۳ الْعَزِيزُ کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ به موسٰی علیه السلام لره غلبه او عزت ورکوی۔

ع۴ الْحَكِيمُ، کښ اشاره ده چه په موسٰی علیه السلام باندے ئے اول مصیبتونه قسم قسم راوستل او آخرکښ کامیابی ورکول دا بنا دی په حکمت دَ الله تبارك وتعالیٰ باندے۔

ع۵ او په دے کښ وحی دَ مسئلے دَ توحید ده چه اول فرض دے۔

لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُونَ ⑩

نه وېرېږي زما په خوا کښ پیغمبران.

إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا

لیکن هغه څوک چه نقصان ئې اوکړو بیا ئې اوکړه نیکي

بَعْدَ سُوءٍ فَإِنِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ⑪

روستو د بدئ نه نو یقیناً زهٔ بخنه کوونکے رحم کوونکے یم.

سنا:- په دې کښ حکمتونه - ۱ د رسالت سره معجزه پکار ده۔

۲ مناسبه معجزه وه د هغه وخت سره۔

۳ په عنوانی کښ ثعبان او په زرزر خوزیدلو کښ د جان (وچه چیمار) پشان، دوه صفتونه متضاد پکښ جمع وو دلیل دے په لوئی قدرت د الله تعالیٰ باندے۔

۴ د ظاهر اسبابو نه ویره کول د رسالت سره منافي نه دي۔

۵ دلیل دے چه په غیبو باندے موسیٰ علیه السلام نه پوهیدلو۔

۶ دلیل دے چه معجزه د نبي په اختیار کښ نه وي۔

۷ تسلي د الله تعالیٰ د طرف نه۔

۸ په وخت د قرب الله تعالیٰ کښ د اسبابو نه خوف نه وي پکار۔

۹ او دا خاص دے په رسولانو پورے دا لوے شان د رسولانو دے۔

سلا:- په دے آیت کښ استثناء منقطع ده حال د غیر انبیاؤ ذکر کوي یعني چا چه ګناه اوکړه او بیا ئې توبه اوکړه نو دهٔ باندے خوف نه وي ځکه چه الله تعالیٰ ورته بخنه کوي - بل قول دا دے چه دا استثناء متصل مفرغ ده په تقدیر د دے عبارت سره۔

وَالْخَوْفُ عَلَىٰ مَنْ سِوَا هُمْ إِلَّا مَنْ ظَلَمَ، ویره شته په ماسوا د رسولانو باندے مګر چه توبه او باسي نو ویره ترینه لرے شي - یا دا چه استثناء متصل ده بغیر د تقدیر د عبارت نه او ظلم نه مراد خلاف اولیٰ کار دے لکه قتل د قبطي د لاس د موسیٰ علیه السلام نه۔

وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ

او ورننه باسه لاس خپل په گریوان خپل کښې

تَخْرُجْ بَيْضَاءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ قف

را اوبه ځي سپين بې له عيب نه

فِي تِسْعِ آيٰتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ

(اولېږل موښږ) په نهه معجزاتو کښې فرعون

وَقَوْمِهِ ط إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا

او قوم ده ته ، یقیناً دوی وو قوم

فٰسِقِينَ ﴿١٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ آيٰتُنَا

نافرمان ۔ پس هر کله چه راغله دوی ته معجزات زموږ

س١٢: په دے آیت کښې دویمه معجزه ذکر کړیده او په دې کښې
حکمتونه دا دی ۔
ع١ اوله معجزه کښې انقلاب د جماد وو حیوان ته هغه جماد چه
مجمع د فوائدو وه هغه دا سے حیوان ته بدله شوه چه مجمع د
شرورو ده ۔ او دویمه معجزه انقلاب د اعراضو دے په اعضاؤ
د بدن د موسیٰ علیه السلام کښې ۔
ع٢ گریوان د قمیص په سینه باندے پکار دے ۔
ع٣ سره د انقلاب د حال نه خالی وو د هر نقصان نه ۔
ع٤ نور آیات ئې اجمالی ذکر کړل او تفصیل ئې سورة اعراف کښې
تیر شوے دے ۔
ع٥ تخصیص د فرعون او تعمیم د قوم د هغهٔ د پاره د رسالت د موسیٰ
علیه السلام ۔
ع٦ او علت د کثرت معجزات او تخصیص د فرعونیانو ئې ذکر کړے دے
په صفت د فسق د هغوی سره ۔

مُبْصِرَةً قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٣﴾

پوهه ورکوونکي دوی اُوئیل دا جادو ښکاره دے.

وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ

او انکار اوکړو دوی دَ هغې نه او یقین کړے وُو په هغې باندے زړونو دَ دوی

ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ۭ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ

دَ وجې دَ عناد او دَ لوئې نه، پس اوګوره چه څنګه شو

ع ۱ ۱۶ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا

انجام دَ فساد کوونکو. او یقینًا ورکړے وُو مونږ

سـ۱۳. په دیکښې تکذیب دَ فرعونیانو ذکر کړے دے اِشاره ده حکمت ته.

عـ۱ چه دَ هرحق خبرے مخالفت او انکار کړے شوے دے.

عـ۲ او په رشتیاؤ باندے دروغ فتوے لګولے کیدے شی.

سـ۱۴. حکمتونه دَ دے آیت دا دی. عـ۱ دَ فرعونیانو انکار عنادی دَ حق نه.

عـ۲ په زړه کښې یقین په حقانیت دَ هغې.

عـ۳ دلیل دے چه هرکله په زړه کښې تصدیق وی لیکن په ژبه باندے انکار روی نو دا کفر دے.

عـ۴ کله سبب دَ کفر عناد او تکبر وی سرهٔ دَ علم نه.

عـ۵ آخری عاقبت دَ مفسدینو هلاکت او تباهی ده.

تردے پورے شپږ دیرش حکمتونه ذکر شول زما دَ علم مطابق، دَ دینه علاوه نور هم ډیر حکمتونه پدیکښې شته. او په دے ټولوکښې لوے حکمت دا دے چه موسیٰ علیه السلام سرهٔ دَ نبوت او دَ معجزاتو نه په غیب باندے علم نه لرلو.

فَانْظُرْ، کښې خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دے او مراد پدیکښې تسلی دَ هغه او دَ امت ده په اهلاک دَ مفسدانو سره.

دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ وَقَالَا

داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام ته خاص علم او دوی وئیل

الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ فَضَّلَنَا عَلٰی کَثِیْرٍ

ټوله ستائینه ده خدای ج الله تعالی لره ده چه غوره ولی یی راکړیدی موږ ته په ډیرو

مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۵﴾ وَوَرِثَ

دَ بندګانو دَ هغه نه چه مؤمنان دی. او تالاب شو

ف ۱۵: دَ دے آیت نه دویمه قصه ده دَ سلیمان علیه السلام تر ۴۴ پورے په دیکښ ډیر حکمتونه دینی او سیاسی موجود دی او دا ټول حکمتونه په قدرت او په علم دَ الله تعالی سره دی. په دیکښ هم لوے حکمت اظهار دَ دے خبرے دے چه سلیمان علیه السلام عالم الغیب نه وو او شهادت دَ دوؤ ګواهانو ئے په هغے باندے پیش کړے دے یو نمله (میږے) او دویم هُدهُد.

عِلْمًا، نکره ده بعضے خاص علمونه ترینه مراد دی چه هغه نبوت دے او دَ مارغانو په خبرو باندے پوهیدل - او تسبیح دَ غرونو او ریدل او تسخیر دَ شیاطینو دے دا په عِلْمًا کښ داخل دی.

په دے آیت کښ حکمتونه دا دی. ع۱ په علم دَ انبیاء علیهم السلام کښ صفتِ فاضله دے.

ع۲ عالم باندے لازم دی چه دَ نعمت دَ علم شکر ادا کوی.

ع۳ او عقیده دِ ساتی اګر چه دے افضل دے دَ ډیر خلقو نه لیکن دَ ده نه هم بعضے خلق افضل شته نو تکبر به نه کوی.

ع۴ او افضل علم هغه دے چه دَ الله تعالی دَ طرف نه نازل شوے وی.

ع۵ او انبیاء علیهم السلام په علم کښ الله تعالی ته محتاج دی.

سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ وَقَالَ يٰٓاَيُّهَا

سلیمان علیه السلام دَ داؤد علیه السلام نه او اوئیل هغهٔ اے

النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ

خلقو خودلے شوے دی مونږ ته خبرے دَ مارغانو

وَاُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ؕ اِنَّ

او راکړے شویدے مونږ ته دَ هر څه نه ، یقیناً

هٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۶﴾

دا خامخا فضل (دَ الله تعالیٰ) ښکاره دے۔

ﻣﻠﺘ:۔ مراد دَ وراثت نه قائم کیدل په ځائے دَ پلار په نبوت او بادشاهۍ کښ او دا دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دے ځکه نور اولاد ته ئے نه دے ورکړے شوے۔

حکمتونه دَ دے آیت ع۱ علم میراث دَ پیغمبرانو دے۔

ع۲ په انبیاء علیهم السلام اظهار دَ معجزاتو واجب دے ځکه اعلان ئے اوکړو یٰٓاَیُّهَا النَّاسُ۔

ع۳ معجزات دوه قسمه دی یو روحانی چه علم دَ منطق الطیر دے او دویم ظاهری چه عجیبه لویه بادشاهی ده۔

ع۴ مارغان هم خبرے کوی او پوهیدل په هغے باندے معجزه ده توبغیر دَ علم وحی نه څوک دا دعوی نشی کولے چه فلانئ مرغئ فلانئ خبرے کوی۔ نو کومو مفسرینو چه تفصیل دَ خبرو دَ مارغانو لیکلے دے هغه صحیح نه دے ځکه چه حدیث مرفوع صحیح سره ثابت نه دی۔

ع۵ نطق په انسان پورے خاص نه دے لکه چه منطقیانو دعوی کړیده او دَ نطق نه قوت دَ ادراک مراد اخستل ډیره بعیده خبره ده

ع۶ معجزات په اختیار دَ انبیاؤ کښ نه دی ځکه علمنا او اوتینا مجهول صیغے ئے اوئیلے او فاعل ئے معلوم دے چه الله تعالیٰ دے۔

ع۷ بادشاهی دَ دنیا په طریقه دَ خرق عادت چه دَ دین دَ ترقۍ دَ پاره

وَحُشِرَ لِسُلَيْمٰنَ جُنُوْدُهٗ مِنَ
او راغونډ ے کړ بشوے سلیمان علیه السلام ته لښکرے د هغهٔ د
الْجِنِّ وَالْاِنْسِ وَالطَّيْرِ فَهُمْ
پیریانو او انسانانو او مارغانو نه نو دوی
يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۷﴾ حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى
حصّے حصّے کولے شول. تر دے پورے هر کله چه دوی راغلل په
وَادِ النَّمْلِ ۙ قَالَتْ نَمْلَةٌ
میدان د میږو باندے اُوئیل میږی
يٰٓاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ ۚ
اے میږو ورننوځئ کورونو خپلو ته

استعمالیږی دا هم فضل د الله تعالیٰ دے۔
کُلِّ شَیْءٍ ، د دے نه مراد هغه څیزونه دی چه بادشاهئ د قوت سره مناسب وی او دیته استغراق عرفی وئیلے شی هر څیز مراد نه دے ځکه ډیر څیزونه (لکه مملکت سبا) خو هغه ته نهٔ وو ورکړے شوے علمنا او اوتینا جمع صیغے ځکه ذکر کړے چه سلیمان علیه السلام سره د تابعدارانو نه مراد دے۔
۱۷۔ دا تصدیق دے د ماقبل خبر چه د علم د منطق الطیر او د لوے بادشاهئ نمونه دا ده۔
حکمتونه دا دی ۱ بادشاه سره فوجی نظام ضروری دے۔
۲ په وخت د ضرورت کښ ټول لښکر جمع کول پکار دی۔
۳ لښکر د هغهٔ درے قسمه مخلوق وو دا په طریقه د معجزے سره وو
۴ لښکر ټول یوځائے کښ جمع کول د پاره د دے چه هیبت پر بوځی په دشمن باندے۔
۵ لښکر په مختلفو ټکړو کښ تقسیم کول پکار دی په وخت د ضرورت کښ د پاره د تنظیم او دا ټول امور سیاسیه دی۔

لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ ۙ

میده نه کړي تاسو لره (د ځپلو د لاندې) سلیمان او لښکرې د هغهٔ

وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ⑱ فَتَبَسَّمَ

او دوی په نه پوهیږي. نو مُسکے شو سلیمان

يُوْزَعُوْنَ. رابند ولے شول په یو ځاے کښ یا معنیٰ دا ده چه تقسیم کولے شول په انتظام سره.

سـ١٨ :. مخکښ آیت کښ بیان وو د اُوْتِيْنَا مِنْ كُلِّ شَيْءٍ او پس ے آیت کښ بیان دے د عُلِّمْنَا مَنْطِقَ الطَّيْرِ.

حَتّٰى، نه مخکښ تقدیر د عبارت دے (فَسَارُوْا) روان شول تر دے پورے وَادِ النَّمْلِ، بقاعی په نظم الدرر کښ وئیلے چه دا وادی په طائف کښ ده او ما لیدلے ده او بیضاوی وائی چه په شام کښ ده.

نَمْلَةٌ، وئیلے شوے دی چه د دے میږی دوه وزرے وے ځکه د دے خبرے په مَنْطِقَ الطَّيْرِ کښ داخلے دی.

مشهوره دا ده چه دا مؤنثه وه رځکه اوس بعضے ناپوهه پس ے بانده دلیل نیسی په جواز د امارت د ښځو بانده) او دا قول د امام ابوحنیفه نه په زمانه د وړوکوالی د هغه کښ نقل کړے شوے دے لیکن طیبی او ابوحیان او زمخشری په هغے بانده رد کړے دے او ظاهر احتمال دا دے چه نر وو. او تانیث لفظی سره د اسناد مؤنث نه دلیل د تانیث حقیقی نه دے صحیح.

حکمتونه د دے آیت دا دی ع١ میږو او نورو حشراتو کښ الله تعالیٰ فهم او شعور اچولے دے.

ع٢ میږی هم ژوند په خاص تنظیم سره تیروی.

ع٣ هر مشر له پکار دی چه خپل قوم ته د خطراتو او مفاسدو نه د بچ کیدلو تدبیر او خوی لکه چه دے میږی خودلے وو.

ع٤ او د چا نه یو عمل په ناخبرئ بانده کیږی نو هغهٔ معذور گنړل پکار دی. لکه چه په لَا يَشْعُرُوْنَ کښ عذر د سلیمان علیه السلام او د هغهٔ لښکر ته ئے اشاره اوکړه.

ضَاحِكًا مِّنْ قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ

خندید ونکے دَ وجے دَ وینا دَ هغۂ نه او اوئیل دهٔ اے ربه زما

أَوْزِعْنِيٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِيٓ

برخه (توفیق) راکړے ماته چه شکر اوکړم دَ نعمتونو ستا هغهٔ چه

أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَالِدَيَّ وَ

تا احسان کړیدے په ما باندے او په مور او پلار زما باندے او

أَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَ

دا چه عمل اوکړم نیک چه ته یې خوښوے او

أَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ

داخل کړے ما لره په وسیله دَ رحمت ستا په بندګانو ستا کښں

الصَّالِحِينَ ۞ ١٩ وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ

چه نیکان دی ۔ او لټون یې کوۀ دَ مارغانو

عه پیغمبران او اولیاء کله دَ خپو دَ لاندے دَ میږی دَ حال نه هم علم نه لري ځکه چه علم دَ غیبو هغوی لره نشته۔

فائده ۱ :۔ ظاهر دا ده چه سلیمان علیه السلام دا سفر په هوا کښں نه کوۀ یا خو قریب سفر وۀ یا هوا تردغه وخت پورے نه وه مسخر کړے شوے نو دا اعتراض نشی کیدلے چه لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ یې ولے اوئیل هغهٔ خو په هوا کښں منزل کوۀ۔

فائده ۲ :۔ دَ نملة په کلام کښں لس وجوه دَ فصاحت او بلاغت دی (او دا الفاظ دَ قرآن کلام الله دی) ۱ ندا ۔ یا ۲ تنبیه ۔ ایها ۳ التسمیه ۔ النمل ۴ امر ۔ ادخلوا ۵ قصص ۔ مسکنکم ۶ تحذیر ۔ لا یحطمنکم ۷ تخصیص ۔ سلیمٰن ۸ تعمیم ۔ جنوده ۹ اشاره ۔ وهم ۱۰ عذر ۔ لا یشعرون ۔

مسئله :۔ هر کله چه وینا دَ نملے الله تعالیٰ سلیمان علیه السلام ته واوروله

فَقَالَ مَا لِيَ لَآ أَرَى الْهُدْهُدَ ز صلے

نو اُوئیل ئے څه وجه ده ما لره چه نه وینم هدهد لره

أَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِينَ ⑳

او که دے د پټیدونکو نه دے۔

نو هغه نعمت دَ الله تعالیٰ ئے اوکنړلو او خوشحالی ئے ښکاره کړله اوشکر ئے ادا کړلو۔

حکمتونه دَ دے آیت دا دی ع۱ دَ خندا دوه قسمونه ئے ذکر کړیدی۔ ع۱ تبسم ع۲ ضحاک۔ او قهقهه ئے نه ده ذکر کړے ځکه چه قهقهه دَ زړه دَ غفلت دَ وجے نه وی او انبیاء علیهم السلام دَ زړه دَ غفلت نه پاک دی۔

ع۲ په نعمت باندے خوشحالی کول جائز دی۔

ع۳ دعا دَ توفیق دَ شکر هم شکر دے۔

ع۴ او نعمت چه والدینو باندے نعمت دے نو په اولاد باندے دَ هغے هم شکر کول ضروری دی۔

ع۵ انبیاء علیهم السلام هم مکلف دی په عمل صالح کولو یعنی داسے عمل چه موافق وی دَ هغوی دَ وحی سره۔

ع۶ او انبیاء علیهم السلام هم رحمت دَ الله تعالیٰ ته محتاج دی۔

ع۷ او رحمت دَ الله تعالیٰ بهتره وسیله دَ دُعا ده۔

فائده:۔ دَ تبسم نه روستو ضَاحِکًا ئے ذکر کړیدے ځکه چه ضحاک دلته په معنیٰ دَ خوشحالۍ سره دے معنیٰ دا "موسکے شو خوشحالی کوونکے" یا مراد دا دے چه اول ئے تبسم اوکړلو نو بیا ئے صورت دَ ضحاک اختیار کړلو۔

نمبر۲:۔ هر کله چه منزل مقصود دَ دے سفر ته اورسیدو نو دَ لښکر دَ خواصو او دَ عوامو خبر ګیری ئے شروع کړله۔

حکمتونه دَ آیت دا دی ع۱ بادشاه او امیر باندے لازم دی چه دَ خپل فوج متعلقینو حاضری دے معلوموی او دَ هغوی دَ حال خبر ګیری دِ کوی۔

لَاُعَذِّبَنَّهٗ عَذَابًا شَدِيْدًا

خامخا سزا به ورکرم دهٔ ته سزا سخته

اَوْ لَاَاذْبَحَنَّهٗٓ اَوْ لَيَاْتِيَنِّيْ

یا به حلال کرم دهٔ لره یا به راؤړي ماته

بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۱﴾ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيْدٍ

دلیل ښکاره . نو حصار شو لږ وخت

فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ

(ربیا راغے) نو اوئیل چې راګیر کړی دی ما په علم کښې هغه چه تا په علم کښې نه دی راګیر کړې

وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَاٍۭ بِنَبَاٍ يَّقِيْنٍ ﴿۲۲﴾

او راؤړے دے ما تاته د سبا ښار نه خبر یقیني .

ع۲ سلیمان علیه السلام په غیبو باندے علم نه لرلو ځکه چه د هُد هُد د حال نه خبر نه وؤ او د هغهٔ د نه لیدلو دوه وجې ئې په ترتیب سره ذکر کړے.

اوله وجه مَالِیَ یعنی زما نظر کښې په څه نقصان وی چه هُد هُد راته نه ښکاره کیږی.

دویمه وجه، دے به غائب وی د دے وجې نه زهٔ ئې نه وینم. معلومه شوه چه د نه لیدلو وجه غائب والے دے. دا صریح دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام غائب څیز نشی لیدلے څو پورے چه الله تعالیٰ ورته نه وی ښودلے.

ف۲۱ : حکمتونه دادی ع۱ سزا ورکول مجرم ته په سبب د غیرحاضرئ سره .

ع۲ سزا ورکول په تفاوت سره د جرم سره یعنی که لږه غیرحاضری ئې اوکړله نو عذاب به ورکړی یعنی جیل ته به ئې واچوی او که ډیره موده غیرحاضری ئې اوکړه نو ذبح به ئې کړی.

ع۳ او په عذر صحیح سره د سزا معاف کول.

ف۲۲ : یعنی هُد هُد لږ وخت غیرحاضر وؤ بیا زر حاضر شو او عذر ئې پیش کړو او د سزا نه بچ شو.

إِنِّىْ وَجَدتُّ امْرَاَةً تَمْلِكُهُمْ
يقيناً ما موندلے ده يو زنانه چه بادشاهي كوى دَ دوى
وَاُوْتِيَتْ مِنْ كُلِّ شَىْءٍ وَّ لَهَا
او وركړ شويدى هر هغه ضروري څيزونه دَ بادشاهئ او هغې لره دے
عَرْشٌ عَظِيْمٌ ﴿٢٣﴾ وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا
تخت لوے شان والا (قيمتى) او موندله ما هغه او دَ هغې قوم

حکمتونه دَ آيت دا دى علـ بے ضرورته ډير وخت حصاريدل دَ خپلے ډيوټئ نه نهٔ دى پكار۔
عـ٢ كله ادنىٰ شخص ته دَ داسے خبرے علم وى چه اعلىٰ شخص سره هغه نه وى۔
عـ٣ او دا ابتلا وى دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه په لوے عالم باندے دَ دے دَ پاره چه تكبر اونكړى په خپل علم باندے۔
عـ٤ دا دليل دے چه سليمان عليه السلام لره علم غيب نه وؤ په شهادت دَ هُدهُد سره۔
تفسير سراج المنير كښ وئيلے دى چه دا رد دے په شيعه گانو باندے چه هغوى وائى چه امام دَ زمانے نه په علمونو كښ هيڅ علم پټ نه وى او داسے عقيده دَ بريلياتو دَ آخرى نبى صلى الله عليه وسلم په باره كښ او دَ عام جاهلانو دَ خپلو پيريانو په باره كښ۔
٥ اول اجمالى خبر او بيا دَ هغې تفصيل كولو سره په خبره كښ وقعت او عظمت پيدا كيږى دلته اوله جمله (احطت بما لم تحط به) ابهام دے او په دويمه جمله (وَجِئْتُكَ مِنْ سَبَاٍ) كښ تفصيل دے۔
سَبَاٍ، ابن كثير ليكلے دى چه دَ دوى ځاے ته مارب وئيلے كيدو او دَ صنعاء يمن نه درے ميله لرے وؤ۔
س٢٣ :- دا بيان دَ هغه خبر دے ، او هُدهُد امور عجيبه شرعًا يا عادتًا ذكر كوى په طريقه دَ تعجب سره۔
اول تعجب كوى دَ ښځے دَ بادشاهئ نه او دا عادتًا هم دَ غيرت نه خلاف

يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ
چه سجدے ئے کولے نمر ته سوا دَ الله تعالیٰ نه

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ
او ښائسته کړی دی ورته شیطان عملونه دَ دوی

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ
نو منع کړیدی دوی لره دَ (حق) لارے نه پس دوی

لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿۲۴﴾ اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ
لار دَ (حق) نه موندی۔ چه سجده نه خاص کوی الله تعالیٰ لره

خبره ده او شرعًا هم ناجائز ده۔
دویم تعجب دے دَ کثرت دَ اسبابو دَ بادشاهۍ نه چه په هغه زمانه کښې کوم اسبابو ته ضرورت وو هغه ټول ورسره وو دا مراد دے دَ كُلِّ شَيْءٍ نه،
دریم تعجب دے دَ هغے دَ تخت نه ځکه دا سے تخت سلیمان علیه السلام سره نه وو ځکه چه انبیاء علیهم السلام اسراف نه کوی۔
عَرْشٌ، دَ دے عظمت مفسرینو په مختلف طریقو سره لیکلے دے او خاص خبره دا ده چه دا ئے دَ نمر دَ عبادت دَپاره یو ذریعه جوړ کړے وه پدیکښې درے سوه شپیته طاقونه داسے جوړ کړے وو هره ورځ به نمر په جدا طاق کښې ښکاره کیدلو او دوی به ورته سجدے کولے دَ دے وجے نه ورپسے وَجَدْتُّهَا آه ئے بغیر دَ حرف عطف مخے ته ذکر کړیدے۔
حکمت دا دے عا چه الله تعالیٰ دالویه بادشاهی دَ سلیمان علیه السلام دَعلم نه بهر ساتلے وه دَ ډیرو مصلحتونو دَپاره او ښکاره دلیل دے چه پیغمبران علم بِكُلِّ شَيْءٍ نه لری۔
عا دا رنګ دَ دنیا بادشاهی الله تعالیٰ کله کله کافرانو له هم ورکوی دَپاره دَ ابتلاء ۲۵ :- پدیکښې بله زیاته عجیبه خبره ذکر کوی چه هغه شرک دَ دے ښځے او دَ قوم دَ هغے دے په شرک بالکواکب سره۔

الَّذِىْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِى السَّمٰوٰتِ

هغه ذات دے چه را اوباسی پټ څيزونه په آسمانونو کښ

وَالْاَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُوْنَ وَمَا

او زمکه کښ او پوهه دے په هغه څيزونو باندے چه تاسو يئے پټوئ

تُعْلِنُوْنَ ﴿٢٥﴾ اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ

تاسو يئے ښکاره کوئ۔ الله تعالىٰ نشته حقدار د بندګئ سوا د هغهٔ نه مالک

شرک ډير قبيح دے د دے وجے نه دائے جدا مستقل ذکر کړو۔ او خلور خبرے ئے په ترتيب سره ذکر کړے دی۔

اول نمر ته سجدے کول يا داعمل بد نه ګڼړل بلکه ښائسته ګڼړل په وسوسے د شيطان سره بيا د دے په سبب سره د توحيد د علم او عمل نه منع کيدل بيا د هغے په سبب سره د هر قسم هدايت نه محروم پاتے کيدل۔

حکمت دا دے ۱ چه مشرک شرک کوی نو هغه ورته ښائسته کار ښکاری۔

۲ او د هغے د وجے نه د حق د اوريدلو نه محروم وی۔

۲۵۔ په يکښ رد دے په مشرکانو باندے په ذکر کولو د دليل د توحيد سره يعنی سجده الله تعالىٰ لره خاص کول پکار دی ځکه چه هغه عالم الغيب دے او هغهٔ متصرف دے په آسمانونو او زمکو کښ۔

الَّذِىْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ، جمله د دواړو صفتونو د الله تعالىٰ باندے دلالت کوی۔

۱ پټ څيزونه د آسمانونو نمر، سپوږمۍ، ستورى، بارانونه او وريځے وغيره دی۔

۲ او پټ څيزونه د زمکے۔ بوټی اونے، خزانے، کانونه او چينے وغيره دی۔ د دے بعضے څيزونو د ښکاره کولو د پاره ئے بعضے انسانانو ته طريقے او آلات ورکړيدی۔

حکمت دا دے ۱ چه توحيد د الله تعالىٰ د عقل په دليلونو سره

السجدة

الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۶﴾ (السجدة) قَالَ سَنَنْظُرُ

دَ عرش ډیر لوے شان والا ۔ او ئیل سلیمان علیه السلام خامخا مونږ گورو

اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۲۷﴾

آیا رشتیا وائیے او که ته یې دَ دروغژنو نه ۔

ثابت دے ۔

ع۲ سجده خاص حق دَ الله تعالیٰ دے ۔

فائده :- اَلَّا يَسْجُدُوْا په قراءت دَ شد سره بدل متعلق دے په اَعْمَالَهُمْ پورے یا صَدَّهُمْ پورے ۔ او که متعلق شی په لَا يَهْتَدُوْنَ پورے نو لا په زیاتی وی ۔

۲۶ :- دا تفریع ده په ما قبل دلیل باندے په ذکر دَ توحید دَ الوهیت سره او توحید دَ ربوبیت (رب العرش العظیم) دلیل دے دَ پاره دَ توحید دَ الوهیت ۔

حکمتونه دا دی ع۱ توحید دوه قسمه دے توحید دَ الوهیت او توحید دَ ربوبیت ۔

ع۲ او دویم دلیل دے دَ پاره دَ اول ۔

ع۳ دَ ښځے تخت عظیم وو لیکن تخت دَ الله تعالیٰ عظیم دے او معرفه دلالت کوی په کمالِ عظمت باندے چه هغهٔ په نکره کښ نشته ۔

ع۴ دَ هُدهُد دَ بیان نه معلومه شوه چه حیوانات حشرات ټولو ته فهم او شعور دَ توحید ورکړ یشوے دے ځکه چه هُدهُد حیوان (مرغے) وو ۔

۲۷ :- دا هم دلیل دے چه سلیمان علیه السلام په غیبو باندے علم نه لرلو ځکه حقیقت معلومولو دَ پاره یو طریقه اختیار وی ۔

حکمتونه دا دی ع۱ خبر دَ مخلوق (غیر دَ انبیاؤ او ملائیکو نه) احتمال دَ صدق او دَ کذب لری ۔

ع۲ دَ خبر نه روستو تحقیق ضروری دے ۔

ع۳ خبر دَ یو تن کله چه معتمد وی قبول دے لیکن دَ زیادت اعتماد دَ پاره کوشش پکار دے ۔

اَلْكٰذِبِيْنَ ، کښ مبالغه ده یعنی که چرے دَ نبی په وړاندے دَ یو تن

اِذْهَبْ بِّكِتٰبِیْ هٰذَا فَاَلْقِهْ اِلَیْهِمْ
بوسه خط زما چه دا دے نو اوغورځوه دا هغوی ته

ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَاذَا
بیا په ډډه شه د هغوی نه نو ګوره چه دوی څۀ

یَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾ قَالَتْ یٰۤاَیُّهَا الْمَلَؤُا
جواب راګرځوی - اُوئیل (ملکې) اے دربار والو مشرانو

اِنِّیْۤ اُلْقِیَ اِلَیَّ كِتٰبٌ كَرِیْمٌ ﴿۲۹﴾
یقینًا راغورځولے شویدے ما ته خط عزت والا -

دروغ ثابت شول نو دے به غټ کاذب وی یعنی د دروغژنو په ډله کښ به شمار وی -

س ۲۸ :- حکمتونه د آیت دا دی ۱ هرکله چه نبی یا داعی د حق، خبر شی د یو مشرک او مفسد قوم نه نو هغوی ته فی الحال دعوت د حق ضروری دے -

۲ دعوت کله په لسان سره وی او کله په قلم سره وی -

۳ بادشاهانو ته بالخصوص دعوت د خطونو په ذریعه پکار دے لکه چه زمونږ پیغمبر هم د صلح حدیبیه نه روستو مختلفو بادشاهانو ته مهر شده خطونه اولیږل -

۴ او د جواب انتظار ضروری دے د جواب د راتلو نه وړاندې هیڅ اقدام کول نه دی پکار -

س ۲۹ :- حکمتونه دا دی ۱ اراکینو شورٰی ته د مهم خبر اطلاع ورکول -

۲ کرامت د خط په هغې باندې مهر لګول دی لکه چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم هم د دے مقصد د پاره مهر په ګوتۍ کښ جوړ کړے وو -

۳ او د محترم خط احترام کول پکار دی.

کَرِیْمٌ، کرامت د دے خط په مهر سره هم وو او د مضمون په

إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ

بقیناً دا د سلیمان علیه السلام د طرفه دے او بقیناً مضمون ئے دا دے شروع په نوم د الله تعالیٰ سره دے

الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ

چه عام مهربان او خاص رحمتونو والا دے۔ (او دا چه) تاسو لوئی او تکبر زما په مقابله کښ

وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يَا أَيُّهَا

او راشئ ما ته تابعداری کوونکی (د الله تعالیٰ او د رسول) اووئیل هغے اے

لحاظ سره هم او په کلمه د بِسْمِ اللَّهِ سره هم وؤ۔

ت٣٠، ت٣١ :- دا تفصیل د خط دے په ذکر د مرسل او ذکر د مضمون سره۔ او مضمون مشتمل دے په درے خبرو باندے په طور د اختصار سره اول بِسْمِ اللَّهِ چه مکمل دعوت د توحید دے مشتمل دے په توحید د الوهیت او توحید د اسماؤ صفاتو او توحید د استعانت۔ دوئم دعوت پس د متلو د دینه په أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ سره دے یعنی د دین زما مخالفت مه کوئ په لوئی او تکبر سره۔ دریم دعوت د انقیاد پوره اسلامی نظام ته په وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ سره۔

فائده :- صحیح دا ده چه إِنَّهُ مِنْ سُلَيْمَٰنَ د خط په آخر کښ یا په یو طرف باندے لیکلے وؤ د بِسْمِ اللَّهِ نه وړاندے نه وؤ لیکن عادت دا دے چه مُرسل الیه اول د مرسل نوم ته گوری دا سے خطیب شربینی په تفسیر سراج المنیر کښ لیکلے دی۔

حکمتونه، د خط لیکلو آداب دی ع١ د مرسل خپل نوم لیکل۔

ع٢ د خط ابتدا په بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ سره۔

ع٣ او کلمه د تسمیه پوره لیکل صرف بسم الله یا باسمه تعالیٰ یا په ابجد و کښ لیکل مناسب نه دی۔

ع٤ خپل مقصد په اختصار سره جامع مانع لیکل۔

الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِیْ فِیْۤ اَمْرِیْ ۚ مَا كُنْتُ

مشرانو دَ قوم صلاح راکوئ ما ته په باره دَ کار (تدبیر زما) کښ ته یم زۀ

قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿۳۲﴾

فیصله کوونکے دَ یو کار ترڅو پورے چه تاسو حاضر یئ .

قَالُوْا نَحْنُ اُولُوْا قُوَّةٍ وَّ اُولُوْا بَاْسٍ

دوی اُوئیل مونږ طاقت والا یو او خاوندان دَ جنګ

شَدِیْدٍ ۙ۬ وَّ الْاَمْرُ اِلَیْكِ فَانْظُرِیْ

سخت یو او اختیار تاته سپارلے شوے دے نو اوګوره

مَاذَا تَاْمُرِیْنَ ﴿۳۳﴾ قَالَتْ اِنَّ الْمُلُوْكَ

چه ته څۀ حکم کوے . دے اوئیل یقیناً بادشاهان

اِذَا دَخَلُوْا قَرْیَةً اَفْسَدُوْهَا وَ جَعَلُوْۤا

هرکله چه ورننوځی (په جنګ سره) یو کلی ته نو وراتوی هغه کلے او ګرځوی

۳۲:- هرکله چه شوری والا هیڅ خبره اونکړه نو دوی ورته اوئیل اَفْتُوْنِیْ ، مشوره دَ هغوی ته ئې فتوی اوئیل دَ وجے دَ جلدیٔ کولو ته په فیصله کښ او فتوی هغه مضبوط جواب ته وئیلے کیږی چه په یو حادثه کښ ضروری وی. اَمْرِیْ ، مراد دَ دینه جواب ورکول دَ خط دی. مَا كُنْتُ قَاطِعَةً ، په دے جمله کښ دَ هغوی تعظیم دے او ترغیب ورکول دی صحیح جواب ورکولو ته . او دا دلالت کوی چه دا ښځه په امورو سیاسیو کښ پوره هوښیاره وه.

حکمتونه دَ دے آیت ع۱ بادشاه لره اهلِ شوری ضروری دی.

ع۲ اهلِ شوری له پکار دی چه صحیح مشوره ورکوی.

ع۳ او هرکله چه دوی اتفاق اوکړی په یو خبره باندے نو هغۀ دے په طریقه دَ فتوے جاری کولے شی.

۳۳:- شوری والا بغیر دَ تحقیق نه مشوره ورکړه په جنګ کولو سره.

أَعِزَّةَ أَهْلِهَآ أَذِلَّةً ۚ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿٣٤﴾

عزتمن اوسیدونکی دهغې ذلیلان او دغسې دوی کوی۔

وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ

او یقینًا زهٔ لیږونکې یم هغوئ ته څه هدیه (ډالۍ)

فَنَاظِرَةٌۢ بِمَ يَرْجِعُ ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٣٥﴾

نوګورم چه په څهٔ جواب سره واپس کیږی لیږلے شوی۔

په خپل قوت دَ مال اودَ فوج او په هنر دَ جنګ کولو باندے غرور ئے اوکړو۔ او حالات او قوّت دَ دشمن ئے نه وؤ معلوم کړے او دا دَ دوی بے وقوفی وه۔

حکمتونه دادی ع١ مشوره پس دَ تحقیق نه ورکول پکار دی۔

ع٢ دَ خپل قوت په مقابله کښ دَ بل طرف قوّت ته هم نظر پکار دے۔

ع٣ پس دَ مشورے ورکولو نه اختیار دَ امیر دے او هغه پابند دَ شوری نه دے۔

س٣٤:۔ دا تردید دے دَ ښځے په مشوره دَ اهلِ شوریٰ باندے او توجه ئے ورکړه هغوی له سوچ کولو ته چه هر کله یو بادشاه ستاسو په ملک باندے حمله کول غواړی معلومیږی چه دَ هغه په ډیر قوّت وی نو دَ دے ملک به څنګه عاقبت وی؟ معلومه شوه چه ښځه دَ دے قوم ته په سیاسی نظر کښ قابله وه۔ دغه رنګ ابن کثیر دَ حسن بصری رحمه الله نه روایت راوړے دے۔

حکمتونه دادی ع١ امیر لره په مشوره باندے عمل کول ضروری نه وی۔

ع٢ او مشوره په نرمه او مدلل طریقه سره رد کول پکار دی۔

ع٣ بادشاهان دے په جنګی امورو باندے ډیر سوچ او فکر کوی۔

ع٤ دَ جنګ مسلط کولو دوه آثار دی۔

اول خرابی او فساد دَ وطن۔ دویم عزتمن خلق ذلیل کیدل۔

س٣٥:۔ دا دَ دغه ښځے سیاسی بصیرت دے۔ حاصل ئے دا دے چه دا خط رالیږونکے طلب ګار دَ دنیا دے او که دنیا پرست نه دے بلکه په خپله

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ

نو هر کله چه راغله دالئ سلیمان علیه السلام ته اُوئیل هغهٔ آیا امداد کوئ ما سره

بِمَالٍ فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَيْرٌ

په مال نو هغه چه راکړی دے ماته الله تعالیٰ غوره دے

مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ بَلْ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمْ

د هغې نه چه تاسو ته ئې درکړی دے بلکه تاسو پخپله دالئ باندے

تَفْرَحُونَ ﴿٣٦﴾ اِرْجِعْ إِلَيْهِمْ فَلَنَأْتِيَنَّهُم

لويي کوونکي يئ- واپس لاړشه دوي ته پس خامخا راله ولو دوي ته

دعوٰی کښ مضبوط دے او د دے معلومول په ذریعه د مال سره کیږی ځکه چه مال لویه فتنه ده که دے سړی هدیه او مال قبول کړو او خپل مقصد ئې پریخودلو نو د دهٔ نه به پد ے مال ورکولو سره په آسانه طریقه باندے خلاص شو او که هدیه ئې قبوله نه کړه نو د دے شخص سره جنګ کول ګران دی - اوس زمانه کښ هم اکثر جماعتونه په ملک کښ د شریعت د نافذ کولو شور کوی نو دنیوی بادشاهان هغوی له مال یا څه اقتدار ورکړی نو هغوی خپل احتجاج پریږدی نو معلومه شوه چه د دوی مقصد دین نه دے بلکه دُنیا ده -

حکمتونه دا دی ۱ د اقتدار او غلبے طلب کوونکی امتحان پکار دے -

۲ امتحان په مال سره کیږی -

۳ په نوم بدلولو سره (رشوت له هدیه نوم ورکولو سره) څیز نه حلالیږی.

فائده :- هره زمانه کښ رشوت له نوم بدل کړی هدیه او دالئ نوم ورله کیږدی لیکن په نوم بدلولو سره حرام څیز حلال نه کرځی لکه چه دے ځے هم رشوت له نوم د هدیے کیخودلو -

۳ :- سلیمان علیه السلام هم پوهه شو چه دا ما د رشوت په ذریعه د مقصد نه اړوی نو ځکه هغه هدیه ئې رد کړله -

أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ، یعنی تاسو زما دنیوی مال زیاتی کول غواړئ او

بِجُنُوْدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا وَلَنُخْرِجَنَّهُمْ

لښکرے چه نه به وی طاقت دوی لره دَ مقابلے دَ هغے او خامخا اوباسو به دوی لره

مِّنْهَا أَذِلَّةً وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿۳۷﴾

دوی دَ هغه (کلو) نه کمزوری او دوی به سپک وی۔

قَالَ يٰٓأَيُّهَا الْمَلَؤُا أَيُّكُمْ

اُووئیل سلیمان علیه السلام اے مشورے والو کوم یو ستاسو نه

اوحال دا چه زما مقصد دین دے۔

فَمَآ اٰتٰىنِیَ اللّٰهُ، نبوت او بادشاهی په جن او طیورو باندے دَ نورو بادشاهو نه غوره ده۔

حکمتونه دَ دے آیت ع۱ انبیاء علیهم السلام فرق کوی په مینځ دَ هدیه او دَ رشوت کښ دَ وجے دَ فراست نه هدیه (چه واقعی هدیه وی) نو انبیاء علیهم السلام ئے قبلوی۔

ع۲ دَ دنیا په حصه باندے قناعت پکار دے۔

ع۳ په دنیا باندے فرح او خوشحالی کول دَ جاهلانو کار دے۔

فَلَمَّا جَآءَ، کښ ضمیر جنس رسول ته راجع دے اگرچه هغه ډیر کسان وُو په قرینه دَ المرسلون سره۔

ع۳ دا تخویف دے هغوی ته دَ جنگ کولو په دے شرط چه هغوی انقیاد قبول نه کړی او هدیه او رسولان دَ هغے ئے واپس کړل۔ نو آیت کښ تقدیر دے یعنی اَنْ لَّمْ یَاْتُوْا مُسْلِمِیْنَ فَلَنَاْتِیَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ الخ یعنی که دوی انقیاد اونکړی نو بیا به جنگ ورسره اوکړم۔

حکمت دا دے ع۱ دَ دعوت حق دَ رد کولو نه روستو اعلان جنگ ضروری دے۔

ع۲ او دَ قتل نه باقی دشمنان دَ ملک نه ویستل او ذلیل کول پکار دی

أَذِلَّةً، بے ماله بے عزته۔

صٰغِرُوْنَ، مغلوب به کړیشی۔

يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِي

ستا سو نه به راوړي ما ته تخت د هغې مخکښې د دینه چه راشي دوی ما ته

مُسْلِمِينَ ﴿۳۸﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ الْجِنِّ

تابعداري کوونکي. اُووئیل یو طاقتور د پیریانو نه

أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن

زه به راوړم تا ته هغه تخت مخکښې د پاسیدلو ستا د

مَّقَامِكَ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴿۳۹﴾

خپل ځائے نه او بیشکه زهٔ پدے باندے قوّت لرم امانتدار یم.

ف۳۸:. هرکله چه سلیمان علیه السلام خبر کړے شو چه هغوی د اِنقیاد په طور سره راروان شول نو دغه وخت سلیمان علیه السلام خپل ارکان شورٰی ته اُووئیل د هغې د تخت د راوړلو په باره کښ. او مقصد د دے راوړلو دا دے چه سلیمان علیه السلام هغه ښځے ته او د هغې قوم ته معجزه اوښائي د پاره د اثبات د نبوت خپل او د پاره د اظهار د قدرتِ عظیمه د الله تعالی دلیل په توحید باندے. کوم چه مفسرینو لیکلي دي چه مقصد ئې قبضه کول وؤ فقط نو دا د نبي د شان سره نه خائیږي ځکه هغه هدیه د هغوی واپس کړله نو تخت ته ئې څه حاجت دے. دا اسرائیلي روایات دي خاص د سلیمان علیه السلام د بدنامولو د پاره.

حکمتونه دا دي ۱ چه اسلامي مشاورت د پاره مجلس شورٰی ضروري دے.

۲ او شورٰی والا باندے هم بعضے کارونه د حکومت اچولے شي.

۳ په نبي باندے اظهار د معجزے ضروري وي او سلیمان علیه السّلام چه څه کوي نو د الله تعالی په اذن سره ئې کوي.

ف۳۹:. معلومه شوه چه د هغهٔ اهلِ شورٰی جنات هم وؤ او هغوی تابع وؤ د حکم د سلیمان علیه السلام.

حکمتونه دا دي ۱ جنا تو کښ ډیر قوت والا شته چه درانه خیزونه پورته کولے شي.

قَالَ الَّذِیْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ

اوئیل هغهٔ چاچه دَ هغهٔ سره پوهه وه دَ کتاب

اَنَا اٰتِیْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ یَّرْتَدَّ اِلَیْكَ

زهٔ به راوړم تاته هغه مخکښې دَ دینه چه واپس شی تا ته

طَرْفُكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ

نظر ستا . نو هر کله چه اولیدو سلیمان تخت لره ولاړ دَ هغه په خوا کښې

قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّیْ ۖ قف

اوئیل دهٔ دا دَ وجې دَ فضل دَ رب زما نه دے

لِیَبْلُوَنِیْٓ ءَاَشْكُرُ اَمْ اَكْفُرُ ؕ وَ مَنْ شَكَرَ

دَ پاره دَ دے چه په ما باندے ازمیښت اوکړی آیا شکر کوم او که نا شکری کوم، او چاچه شکر اوکړ

فَاِنَّمَا یَشْكُرُ لِنَفْسِهٖ ۚ وَ مَنْ كَفَرَ

نو یقینًا دے شکر کوی دَ پاره دَ فائدے خپلے او چاچه ناشکری اوکړه

ع۱ جناتو لره دا طاقت هم ورکړے شوے دے چه په لږ وخت کښې ډیر مسافت قطع کولے شی چه انسان ئے نشی کولے.
ع۲ دَ هر کارکولو دَ پاره دوه صفتونه پکار دی قوت او امانت.
ع۳ دَ خپل قوت اظهار په وخت دَ ضرورت کښې جائز دے.
عِفْرِیْتٌ، په معنیٰ دَ ډیر قوت والا دے سرکش نه دے مراد ځکه چه هغه ځان ته آمین وئیلے دے او سلیمان علیه السلام دَ هغه په صفت باندے تردید نه دے کړے.
مَقَامِكَ، مراد ترینه مجلس دَ قضا دَ سلیمان دے چه هغه تر وخت دَ غرمے پورے وو.

فَإِنَّ رَبِّيْ غَنِيٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ

نو یقینًا رب زما بے حاجته عزت والا دے - اوئیل سلیمان علیه السلام

سُنه :- سلیمان علیه السلام اوفرمائیل چه دا تخت زر را رسول ضروری دی ځکه چه په هغے کښ تغییر او تبدیل به کوی او هغوی هم زر رارسیدونکے وُو- نو اوئیل عالم دَ کتاب زه به ئے دَرپ دَ سترګو نه وړاندے را اورسوم-

الَّذِيْ عِنْدَهٗ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتٰبِ .کښ درے اقوال دی-

اول قول ، دَ آصف بن برخیا وُو وزیر دَ سلیمان علیه السلام وُو ولی الله وُو- لیکن دا قول ضعیف دے دَ یو څو وجو نه اول چه کرامت دَ ولی په اختیار کښ نه وی نو هغه څه رنګ ځان ته نسبت اوکړو دَ راوړلو دَ تخت - دویم دا چه دَ نبی په اسے کارونو کښ ولی ته ضرورت نه وی ځکه چه صفت دَ نبوت دَ ولایت نه غالب او قوی دے.

دریم دا چه الذی عندهٗ علم من الکتاب دا صفت په سلیمان علیه السلام کښ اقوای وُو په نسبت دَ آصف بانده نو معهود به دے سره غیر قوی شخص څه رنګ کیدے شی -

دویم قول دا دے چه دا جبرائیل علیه السلام وُو هغهٔ حاضر وُو دَ سلیمان علیه السلام سره او جبرائیل آمین لره الله تعالی دَ دینه زیات قوت هم ورکړیدے. او دَ علم دَ کتاب نه مراد دا چه دَ وحی الٰهی په نازلولو بانده دے مقرر دے. او هغه مستلزم دے علم دَ هغهٔ لره-

دریم قول دَ سلیمان علیه السلام وُو او خطاب ئے عِفْرِيْتٌ ته اوکړلو او دا سے خطاب په وخت دَ محاوره کښ کیدیشی او دا معجزه ده دَ سلیمان علیه السلام او نسبت دَ معجزے نبی ته کله کله مجازًا کیدیشی لکه په واقعه دَ عیسیٰ علیه السلام کښ -

وَ اُنَبِّئُكُمْ بِمَا تَاْكُلُوْنَ وَمَا تَدَّخِرُوْنَ فِيْ بُيُوْتِكُمْ . آلعمران ۴۹ او دا رنګ سورة یوسف ۳۷ کښ - او ظاهر دلیل دَ ترجیح دَ دے قول دا دے چه سلیمان علیه السلام روستو اُوئیل هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ لِيَبْلُوَنِيْ آه دا سے کلمات هغه وخت لوستلے کیدیشی چه دَ یو انسان نه لوے کار صادر شی -

نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِي

تا اشنا کړئ دے (بلقیس) لره تخت ددے گورو مونږ آیا هدایت مونده لے شی

أَمْ تَكُونُ مِنَ الَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾

او که دہ د هغه کسانو نه چه هیڅ هدایت نه موږی۔

فَلَمَّا جَاءَتْ قِيلَ أَهَكَذَا عَرْشُكِ ؕ

نو هر کله چه دا راغله اُوئیلے شو آیا داسے دے تخت ستا

قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ ۚ وَأُوتِينَا الْعِلْمَ

اُوئیل هغے گویا که دا خو هغه دے او راکړے شوے دے مونږ ته علم رشاد

حکمتونه ددے آیت ۱ علم دکتاب الهی لوے قوت دے۔

۲ هر کله چه یو نعمت حاصل شی راگرچه په ظاهر کښ په قدرت د انسان سره وی) خو د هغے نسبت د الله تعالیٰ فضل ته کول پکار دی او دا شکر د نعمت دے۔

۳ هر نعمت الهیه په انسان بانده ابتلاء دہ۔

۴ هر نعمت بانده یو د دوؤ نتیجونه تفریع وی یا شکر یا ناشکری۔

۵ او د هرے نتیجے فائده یا نقصان انسان ته حاصلیږی۔

تنبیه:- دا عمل ددے د پاره دے چه استعداد د بلقیس معلوم شی چه آیا دا ددے معجزے (د راوړلو د تخت) نه هدایت فائده اخستلے شی یا نشی اخستلے ځکه هر مبلغ او داعی لره د خلقو استعداد معلومول په باره د هدایت کښ پکار دی او دا په آیت کښ یو حکمت دے او ددے آیت په ذیل کښ اسرائیلی روایات لیکلے شوے دی چه سلیمان علیه السلام د هغے عقل ددے د پاره معلوم لو چه نکاح ورسره اوکړی دا غیر متناسب دی۔

مِنْ قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ ﴿٤٢﴾

نبوت) مخکښ د دے نښې نه او شو مونږ تابعدار ۔

وَصَدَّهَا مَا كَانَتْ تَّعْبُدُ مِنْ

او منع کریده دے لره (د توحید نه) ہغه څیز چه دے عبادت به ئے کولو

دُوْنِ اللّٰهِ ۭ اِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ

سوا د الله تعالیٰ نه، یقیناً دا وه د قوم

كٰفِرِيْنَ ﴿٤٣﴾ قِيْلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ۚ

کافرانو نه ۔ اُوئیلے شو دیته ورننوځه بنګلے ته

٤٢: په دے آیت کښ حکمتونه دادی ١: د سوال اِبتلائی په الفاظو کښ اخفاء د مقصد لره چه اوفرمائیل أَهٰكَذَا أَهٰذَا ئے نه دے وئیلے۔
٢: په جواب کښ هم حکمت او هم ترتیب دے اول کلمهٔ د شک او بیا یقین۔ كَاَنَّ د پاره د شک دے هُوَ د پاره د یقین دے
٣: روستو د دلیل لیدلو نه انقیاد او استسلام ښکاره کول۔
٤: او لیدل د معجزے سبب د پاره د علم د حق دے۔
وَاُوْتِيْنَا: ظاهره دا ده چه دا قول د بلقیس دے مطلب دا چه د دے تخت د راوړو نه هم ستا نبوت معلوم شو لیکن د دے نه وړاندے د خط د مضمون نه او بیا د هدیے د واپس کولو نه معلومه شوی وه چه سلیمان علیه السلام نبی دے۔
وَكُنَّا مُسْلِمِيْنَ، یعنی مونږ په اراده د انقیاد او تابعدارئ سره روان شوی یو۔
٤٣: په دے آیت کښ دفع د وهم کوی چه هرکله دا عاقله او هوښیاره ښځه وه نو د څه وجے نه په شرک کښ مبتلا وه۔ جواب دے په ذکر کولو د دوه اسبابو سره۔
اول سبب، د شرک عقیدے او اعمالو (په سبب د جهل) د توحید نه غفلت پیدا کړے وو ځکه د انسان طبیعت دا دے چه په یو نظریه

فَلَمَّا رَاَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَّ كَشَفَتْ

پس هر کله چه دے او لیدله گمان یې اوکړو په هغې باندے دَ غټې دَاوبو او اوچته یې کړه جامه

عَنْ سَاقَيْهَا ؕ قَالَ اِنَّهٗ صَرْحٌ

دَ پنډو خپلو نه، اُوئیل هغه یقینًا دا بنګله

مُّمَرَّدٌ مِّنْ قَوَارِيْرَ ؕ۬ قَالَتْ

جوړه کړے شوې ده دَ شیشو نه، اُوئیل هغې

رَبِّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ وَ اَسْلَمْتُ

اے ربه زما یقینًا ما ظلم کړیدے په ځان خپل باندے او اخلاص کوم دَ بندګئ

مَعَ سُلَیْمٰنَ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۴۴﴾ ع۳ ۱۸

په تابعدارئ دَ سلیمان کښ الله تعالیٰ لره چه رب العالمین دے۔

او مسلک کښ مشغول وی نو دَ هغې نه علاوه تحقیق نه کوی دا یې ذکر
کړو په صَدَّهَا مَا كَانَتْ تَعْبُدُ سره۔
دویم سبب، قوم دَ دے ټول کافر او مشرک وُو یعنی په ماحول دَ
دیکښ توحید او دَ حق هیڅ آواز نه وُو دا ذکر دے په اِنَّهَا كَانَتْ
مِنْ قَوْمٍ كٰفِرِيْنَ سره۔
دَ دینه څو حکمتونه معلوم شول ۱ تعصب دَ مذهب او مسلک انسان
لره دَ نورو مذهبونو نه غافل کوی۔
۲ ماحول لره دَ انسان په عقیده او عمل باندے اثر وی دَ دے
وجے نه دَ غلط مجلس او ناکاره ملګرو نه ځان ساتل ضروری دی۔
سوال :- دا حکم دَ سلیمان علیه السلام دے ښځے ته دَ دوؤ وجو نه۔
اوله وجه، چه دا زنانه ده او په زنانه باندے لازم دی چه کور کښ
د ننه اوسی بهر په مجلس دَ نارینه کښ به نه کیني او دا یو حکمت دے
۲ هر کفر او شرک ظلم دے په ځان خپل باندے۔
دویمه وجه، دا ده چه سلیمان علیه السلام دیته خودله چه زما ستا هدیے
ته هیڅ حاجت نشته بلکه ما لره الله تعالیٰ هغه نعمتونه راکړی دی چه

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ

او یقیناً	لیږلے دے موږ	ثمودیانو ته	ورور دَ هغوی

تاله ئې نه دی درکړی هرکله چه هغې حکم اومنلو داخله شوه نو هغه محل دَ شیشو نه یا دَ چمک کوونکے کټې نه جوړکړے شویوؤ او دے ښځې دا چړے نه وؤ لیدلے نو ګمان ئې اوکړو چه دا دَ اوبو انګنړ (غولے) دے نو دَ دے وجے نه ئې جامه دَ پنړو نه اوچته کړه نو سلیمان علیه السلام دَ نظر کولو نه زرستړګے بل طرف ته واړولے او هغه ئې په حقیقت پوهه کړله.

فائده عا :- دا قول چه پیریانو سلیمان علیه السلام ته ووئیل ووچه دَ دے زنانه په پنړو باندے ویښتهٔ دی دَ دے سره نکاح مکوه نو هغهٔ دا محل دَ دے دَ پاره جوړکړو چه دَ هغې پنړو ته نظر اوکړی دا صحیح نه ده ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ پردو زنانه پنړو ته نظر نه کوی او دا رنګ دا اسرائیلی روایات دی یهودیانو دَ سلیمان علیه السلام دَ بدنامولو دَ پاره دا قصّے جوړے کړے دی.

هرکله چه دَ بلقیس په معجزه اوصدق دَ سلیمان علیه السلام باندے یقین راغے نو دَ شرک نه ئې توبه اوکړه او دَ سلیمان علیه السلام تابع شوه.

فائده عا :- دَ بلقیس سره دَ سلیمان علیه السلام نکاح کول په صحیح دلیل سره ثابت نه دی او دا رنګ بادشاهئ ته واپس لیږل او پس دَ اسلام نه دَ هغې بادشاهی کول په هیڅ صحیح دلیل سره ثابت نه دی بلکه دَ قرآن دَ دے لفظ (چه ادخلی الصرح) نه روستو دَ هغې دَ خروج دَ پاره صریح نص نشته.

حکمتونه دا دی عا عالیشان مکانات جوړول دَ ضرورت مطابق جائز دی.

عا کله دَ انسان نظر خطا کیږی اګرچه هوښیار دی.

عا روستو دَ دلائلو دَ حق نه باطل پریخودل ضروری دی.

عا دَ توحید کمال بغیر دَ تابعداریٔ دَ رسول نه نشی کیدے.

صَالِحًا اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ

صالح علیه السلام چه بندګی کوئ خاص د الله تعالیٰ نو دغه وخت دوی

فَرِيْقٰنِ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۴۵﴾ قَالَ يٰقَوْمِ

دوه ډلې شوې جګړه یې کوله - اوئیل صالح علیه السلام لې قومه زما

لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ

ولې په تادئ غوارئ عذاب مخکښ

الْحَسَنَةِ ۚ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ

د ایمان راؤړلو نه ولې نه غوارئ بخنه د الله تعالیٰ نه

لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۴۶﴾ قَالُوا اطَّيَّرْنَا

د دې د پاره چه په تاسو باندے رحم اوکړیشي - دوی اوئیل سپیره حالت راغے په مونږ باندے

۴۵:- دا دریمه قصّه ده دا هم په ډیرو حکمتونو باندے مشتمل ده اولومړے حکمت پکښ دادے چه انبیاء او اولیاء په سلامتیا کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی نو دوی نیل چا لره نجات او سلامتیا نشي ورکولے - او دا رد د شرک في التصرف دے -

حکمت نمبر ۲ دا دے چه دا ددې علاوه هرنبي په توحید باندے رالیږلے شوے دے -

۳: د حق مسئلے په بیان سره ضرور اختلاف پیدا کیږی -

۴: نسبت د دے تفرق او اختلاف ، داعی د حق ته نشي کیدلے -

يَخْتَصِمُوْنَ ، د دوی اختصام په سورة اعراف ۷۵ ، ۷۶ کښ ذکر شوے دے -

۴۶:- یعني دوی طلب د عذاب کوؤ لکه اعراف ۷۷ کښ دا رنګ دوی شرک کوؤ چه هغه سبب د عذاب دے او د توحید باره کښ یې هیڅ سوچ نه کوؤ د دے وجے نه هغهٔ ورته د زجر په طور سره اوئیل . لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ -

بیا ترغیب د استغفار یې ورکړو چه هغه سبب د رحمت دے -

بِكَ وَبِمَنْ مَّعَكَ ۚ قَالَ طٰٓئِرُكُمْ

ستا په وجه او په وجه د هغه چا چه ستا ملګري دي، اوویل هغه سپیره حال ستاسو د

عِنْدَ اللّٰهِ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

الله تعالی د طرف نه دے بلکه تاسو قوم یئ

تُفْتَنُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِى الْمَدِيْنَةِ

چه امتحان در باندے کیدے شي. او وو په هغه ښار کښ

تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِى الْاَرْضِ وَلَا

نهه کسان ورانے ئے کوو په ملک کښ او نه وو

يُصْلِحُوْنَ ﴿٤٨﴾ قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ

اصلاح کوونکي. دوی اوویل قسمونه اوکړئ په الله تعالی باندے

حکمتونه دا دی ؏۱ د عذاب د اسبابو نه ځان بچ کول ضروری دی۔
؏۲ د رحمت سبب توبه او استغفار دے۔
۴۷: هر کله چه په دوی د کفر او د شرک د وجے نه مختلف عذابونه
راغلل قحط، خشک سالی، مرضونه وغیره نو دوی د دے نسبت صالح
علیه السلام ته کوؤ چه دا بد حالی ستا د نحوست د وجے نه ده یعنی پیدے
وجه چه ته د اولیاؤ او بزرګانو تصرفات نه منے هغهٔ ورله جواب ورکړو
حاصل د جواب دا دے چه دا بد حالی ستاسو د بد اعمالو د وجے د
الله تعالی د طرف نه ده بلکه دا د الله تعالی د طرف نه په تاسو باندے
عذاب دے۔
حکمتونه دا دی ؏۱ د طیره عقیده د جاهلانو او مشرکانو عقیده ده
تفصیل د طیره ابن کثیر لیکلے دے۔
؏۲ بد حالات د وجے د بد اعمالو نه دی۔
؏۳ د بعض عملونو سزا په دُنیا کښ ورکیدے شي۔
۴۸: رَهْطٍ، نوم د جمع دے څکه چه په دوی کښ د یو یو شخص
ډیر تابعدار وو د دے وجه نه ئے رَهْطٍ ورته اوویل۔

لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ

خامخا دَ شپې به حمله اوکړو پـه ده باندې او به کورو الا دَده باندې بیا به خامخا اُوایو موږ

لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ

وارث دَ ده ته چه موږ نه یو حاضر شوی قتل کولو دَ کورنۍ دَ ده ته

وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَمَكَرُوْا مَكْرًا

او یقیناً موږ رشتیا وایو - او چلونه جوړ کړل دوی چلونه

يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ، فساد دَ دوی په ډیرو قسمونو سره وۀ.
۱ شرک ته دعوت ورکول ۲ دَ صالح علیه السلام دَ تابعدارۍ نه
منع کول ۳ دَ خلقو په عیبونو پسې تفتیش کول ۴ روپۍ اشرفۍ په
سود باندې ورکول او نورګناهونه کول -
وَلَا يُصْلِحُوْنَ، پدېکښې رد دے دَ هغوی په زعم باندې چه هغوی
خپل فساد ته اصلاح وئیله-
حکمتونه دا دی ۱ دَ حق پرستو مقابله کښې همیشه مفسدان وی-
۲ دَ مفسدانو تابعدار ډیر وی او دَ حق پرستو کم وی -
۴۹ :- دا دَ دوی دَ فساد کولو نمونه ده یعنی دَ صالح علیه السلام دَ قتل
دَ پاره تدبیرونه جوړول او په قسمونو کښې حیلې او دهوکے کول-
تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ ، دا صیغه دَ فعل ماضی ده دَ باب تفاعل نه او دا حال
دے معنیٰ دا چه " دوی اُوئیل په داسې حال کښې چه قسمونه ئې اوکړل
په کورنۍ کښې "- یا دا صیغه دَ امر ده دَ باب تفاعل نه معنیٰ دا ده
" دوی اُوئیل یو بل ته قسمونه اوکړئ په الله تعالی باندې " حاصل
دا چه دوی عزم اوکړو چه دَ صالح علیه السلام او دَ هغهٔ په اهل
باندې دَ شپې حمله اوکړو او قتل به ئې کړو بیا چه دَ دهٔ متولی (وارث)
په موږ باندې دعوی دَ قتل اوکړی نو دَ دهٔ سره به ګواهان نه وی
نو موږ له به قسم راکوی نو موږ به قسم اوکړو چه قسم دے موږ
دَ صالح علیه السلام دَ اهل قتل کولو دَ پاره حاضر شوے نه وو یعنی
مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ سره به مهلکه ته وایو او پدې قسم کښې موږ

وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۰﴾

او تدبیر اوکړو موږ تدبیر او دوی نه پوهیدل.

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ ۙ

نو اوګوره چه څنګه شو انجام د چل ول د دوی

اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۱﴾

یقینًا هلاک کړل موږ دوی او قوم د دوی ټولو لره.

د دے وجے نه رشتنی یو چه موږ خو په قصد د قتل د صالح علیه السلام کښ په راغلے یو نه په قصد د قتل د اهل د ده - او دا حیله ده په قسم خوړلو کښ لکه په دے زمانه کښ حیله ګر ملایان خلقو ته د قسم کولو داسے طریقه اوښائی چه مدعی په هغے باندے دهوکه شی او حال دا چه قسم کوونکے دروغژن وی.

حکمتونه دا دی ۱ مشرکانو هم قسم په الله تعالٰی باندے کوو.

۲ د حق پرستو د قتل کولو ارادے مفسدان خلق همیشه کوی.

۳ په قسمونو کښ حیلے دهوکے د مفسدانو عمل دے.

۵۰ : د دغه حیله جوړولو نه روستو دوی د صالح علیه السلام په کور باندے د شپے حمله اوکړه لیکن الله تعالٰی د صالح علیه السلام حفاظت د ملائیکو په ذریعه سره اوکړو داسے ابن کثیر لیکلے دی.

او الله تعالٰی داسے د خپلو پیغمبرانو حفاظت د ملائیکو په ذریعه سره په ډیر اوقاتو کښ کړیدے.

وَمَكَرْنَا مَكْرًا ، یعنی د هغه د بچ کولو او د منکرینو د عذاب ورکولو دپاره موږ تدبیر اوکړو.

حکمت دا دے چه الله تعالٰی د خپلو نیکانو بندګانو د مفسدانو په مقابله کښ امداد کوی.

۵۱ : دا بیان د وَمَكَرْنَا دے یعنی د الله تعالٰی د طرف نه تدبیر دا دے د دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ د جدا جدا ذکر نه معلومیږی چه د دغه نهه کسانو عذاب جدا وو او د باقی قوم عذاب جدا وو.

فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا ۗ

پس دغه دي کورونه دَدوی راپریوتلي دي په سبب دَظلم دَدوی

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾

یقینًا په دیکښې خامخا عبرت دے دَپارهٔ دَهغه قوم چه پوهیږی۔

وَأَنجَيْنَا الَّذِينَ آمَنُوا وَكَانُوا

او بچ کړل مونږ هغه چا لره چه ایمان ئے راوړے وو او دوی

يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ

تقوی کوله - او (یاد کړی) لوط علیه السلام لره کله چه اُوئیل هغهٔ قوم خپل ته

حکمت دا دے چه څوک دَنبی خلاف مکرونه کوی نو وبال دَهغې په په مکر کوونکی باندے راځی۔
متل دا دے چاه کن راچاه درپیش (فارسی) مَنْ حَفَرَ بِئْرًا لِأَخِيهِ فَقَدْ وَقَعَ فِيهِ (عربی)
فائده :- دا آیت ئے مصدر کړو په فَانْظُرْ سره اشاره ده دَ واقعے لوے مقصد عذاب دَ منکرینو او نجات مؤمنانو ته۔
٥٢ :- خَاوِيَةً، دا حال دے یعنی خالی دَ اوسیدونکو نه یا غورځیدلی شوی۔
فَتِلْكَ، پدے سره په حقیقت کښې اشاره کیږی هغه څیز ته چه محسوس او موجود وی نو کنډرات دَ مدائن صالح موجود دی۔
او لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ئے ځکه اوفرمائیل چه دَدے قوم خالی کنډرات په مداینِ صالح کښې قریب لارے دَ تبوک ته اوس هم موجود دی۔
حکمت دا دے ډیر قومونه هلاک شی او کنډرات ئے پاتے شی دَپارهٔ دَدے چه روستو خلق تر ینه عبرت حاصل کړی۔
٥٣ :- دا دلیل دے چه سبب دَ نجات ایمان او تقوی ده او دا دَ دے قصے لوے حکمت دے چه صالحین په نجات کښې الله تعالیٰ ته محتاج دی۔

اَتَاْتُوْنَ الْفَاحِشَةَ وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۴﴾

آیا کوئ تاسو بدکارئ او تاسو پوهیږئ.

اَئِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّنْ

آیا تاسو راتلل کوئ نارینو ته په شهوت سره

دُوْنِ النِّسَآءِ ؕ بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ

ورتیریږئ د زنانو نه، بلکه تاسو قوم

تَجْهَلُوْنَ ﴿۵۵﴾ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖۤ

د جهل کار کوونکی یئ. نو نه وو جواب د قوم د هغهٔ

اِلَّاۤ اَنْ قَالُوْۤا اَخْرِجُوْۤا اٰلَ لُوْطٍ

مگر دا چه اُووئیل هغوئ اوباسئ کورنئ د لوط لره

مِّنْ قَرْیَتِكُمْ ۚ اِنَّهُمْ اُنَاسٌ یَّتَطَهَّرُوْنَ ﴿۵۶﴾

د کلی خپل نه یقیناً دوی خلق دی چه د پاکئ دعوے کوی.

فَاَنْجَیْنٰهُ وَاَهْلَهٗۤ اِلَّا امْرَاَتَهٗ ز

پس بچ کړو موږ دهٔ لره او کورنئ د دهٔ لره مگر ښځه د دهٔ

۵۴ نه تر ۵۸ پورے دا څلورمه قصّه ده په دیکښ هم ډیر حکمتونه دی. لوے حکمت پکښ دا دے چه انبیاء او صالحین په نجات او سلامتیا کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی.

حکمتونه دا دی ۱ استعمال د رجالو او هلکانو په شهوت سره دا هم فاحشه ده.

۲ او دا د جاهلانو عمل دے.

۳ حق پرستو لره د وطن نه ویستل.

۴ او په هغوی پورے مسخرے کول دا هم د جاهلانو کارونه دی.

۵ دا سے فواحش سبب د عذاب د دُنیا دی.

قَدَّرْنٰهَا مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۵۷﴾ وَاَمْطَرْنَا

مقرر کړې وه مونږ هغهٔ دَ پاتے کیدونکو نه۔ او راووروؤ مونږ

عَلَيْهِمْ مَّطَرًا ۚ فَسَآءَ مَطَرُ الْمُنْذَرِيْنَ ﴿۵۸﴾ ع

په دوی باندے باران ناآشنا نو ناکاره وو باران دَ ویروَلے شوؤ۔

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى

اُو وایه صفتونه دَ خدائی خاص الله تعالیٰ لره دی او سلامتیا ده (دَ عذابونو آفتونو نه دَ الله تعالیٰ دَ طرفنه) په

عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ آٰللّٰهُ

بندګانو دَ هغهٔ باندے هغه چه غوره کړی دی ۔ آیا الله تعالیٰ

خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۵۹﴾

غوره دے (دَ پاره دَ الوهیت) او که هغه څوک چه دوی یې دَ الله تعالیٰ سره شریکوی۔

حلا باطل پرست کمال ته عیب وائی۔

وَاَنْتُمْ تُبْصِرُوْنَ. یعنی تاسو پوهیږئ چه دا فحش دے او ګناه ده یا دا چه تاسو دا عمل دَ یو بل په مخکښ کوئ یو بل نه پرده هم نه کوئ۔

اِنَّهُمْ اُنَاسٌ يَّتَطَهَّرُوْنَ، دا په طریقه دَ مسخرے دے یعنی چه تاسو ځانونه پاک ګنړئ او مونږ پلیت نو پاک خو دَ پلیت نه لرے کیدل پکار دی نور تفصیل دَ دے په سورة اعراف کښ ذکر کړے شوے دے۔

سوی۵ خلاصه :- دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے دریم باب دے په یکښ دواړه دعوے دَ توحید ذکر کوی او په مینځ دَ هغوی کښ تفصیل دَ توحید دَ الوهیت دے په عقلی دلیلونو اعترافیو سره بیا زجرونه دی په کثرت سره بیا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او دا امور دَ دعوت دی۔ بیا تخویف اخروی دے په تفصیل سره او آخر کښ وحی دلیلونه په رد دَ شرک فی العبادة او دعوت الی القرآن بیا تخویف دنیوی دے۔

أَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ

آیا هغه څوک چه پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه

وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ج

او راوړولے دی تاسو لره دَ آسمان دَطرفنه اوبه

فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ج

نو زرغون کړیدی مونږ په هغے سره باغونه سره دَ تازګئ نه

مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَا ط

نشي کیدے تاسو لره دا چه راززغون کړئ بوټي دَ هغے،

أَءِلٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ط بَلْ هُمْ قَوْمٌ

آیا شته دے کارونو والا دَ الله تعالیٰ سره بلکه دوی قوم دی

تفسیر:- پدے آیت ۵۹ کښ اوله دعوی ده یعنی انبیاء علیهم السلام په سلامتیا کښ الله تعالیٰ نه محتاج دی دوی دَ الله تعالیٰ سره شریک نشي کیدے او دا تفریع ده په قصّه دَ صالح او لوط علیهم السلام باندے - او تفسیر ابن کثیر کښ ذکر دی چه دا طریقه دَ خطبے ویئیلو ده چه اول حمد دَ الله تعالیٰ دے بیا سلام دے په انبیاء علیهم السلام باندے بیا تفصیل دَ توحید دَ الله تعالیٰ دے په دلیلونو عقلیو سره - او دا په دے سورت کښ دویم خطاب دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے.

اصْطَفٰى ، دَ صفا نه اخستلے شویدے ځکه چه انبیاء علیهم السّلام دَ خیرو دَ بشریت (یعنی دَ ګناهونو نه) پاک اوصاف وی.

خَیْرٌ ، دلته په معنیٰ دَ تفضیل نه دے ځکه چه مقابل کښ هیڅ خیر نشته یا صیغه دَ تفضیل په عقیده دَ مشرکانو سره ذکر کړیده چه هغوی په خپلو الهو کښ خیر ګڼړلو - او تقدیر دَ عبارت دا دے

أَعِبَادَةُ اللّٰهِ خَيْرٌ أَمْ عِبَادَةُ مَا يُشْرِكُوْنَ (آیا بندګی کول دَ الله تعالیٰ

يَّعۡدِلُوۡنَ ﴿۶۰﴾ اَمَّنۡ جَعَلَ الۡاَرۡضَ

چه دَحق نه اوړي. آيا هغه څوک چه ګرځولے ده زمکه

غوره ده اوکه بندګي کول دَ شرکاؤ دَ دوی) او دا استفهام تقریری دے ځکه چه روایت کړے شوید ے چه نبي صلی الله علیه وسلم به دَ دے آیت نه روستو وئیل (بَلِ اللهُ خَیْرٌ وَّ اَبْقٰی وَاَجَلُّ وَاَکْرَمُ).

۶۰:- دَ دے آیت نه دلیلونه عقلیه شروع شول په توحید دَ الوهیت باندے او دا اعترافي سکوتي دي ځکه چه تپوس ئے (استفهام) ذکر کړے دے او جواب دَ خصم یئے نه دے ذکر کړے.

اَمَّنۡ دا په اصل کښ اَمۡ مَنۡ دے او اَمۡ په معنیٰ دَ بَلۡ دے. یعنی اول چه سوال ذکر کړو په الله سره نو دا تفصیل دے په ذکر دَ صفاتو دَ الوهیت سره او پدے آیت کښ دے صفات ذکر کړیدي او آیت کښ تقدیر دے دَ مخکښ پشان یعنی اَعِبَادَةُ مَنۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ اٰهٖ خَیۡرٌ اَمۡ عِبَادَةُ مَا یُشۡرِکُوۡنَ.

دویمه توجیه دا ده چه دا مستقل تپوس دے معنیٰ ئے دا ده (بلکه) آیا څوک دے چه پیدا کړیدي آسمانونه او زمکه (الیٰ آخره) او جواب حذف دے (لیقولن الله).

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللهِ، دا مستقل تپوس دے یعنی هرکله چه دوی اومنله چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه پیدا کړي دي نو آیا بل څوک (اِله) شته چه پشان دَ الله تعالیٰ دا کارونه اوکړي شي دَ دے نه روستو هم جواب حذف دے یعنی لا (نشته). او بَلۡ هُمۡ قَوۡمٌ یَّعۡدِلُوۡنَ زجر دے په معنیٰ دَ عدول دے یعنی دَ حق نه بے دلیله اوړي یا عدل په معنیٰ دَ مساوات دے یعنی دوی دَ الله تعالیٰ سره نور خلق برابر ګنړي او دا رنګ تشریح پدے روستو آیاتونو کښ تر ۶۴ پورے ده. او پدے آیاتونو کښ دَ اِله معنیٰ ته اشاره ده چه اِله هغه ذات دے چه دا کارونه (چه پدے پنځه آیاتونو کښ ذکر شوی دي) کولے شي او هغه ته متصرف او کارساز وئیلے کیږي. نو معلومه شوه چه په دے آیاتونو کښ اِلٰهٌ په معنیٰ دَ تصرف او واکدار سره دے او دا دے عام معنیٰ ده.

قَـرَارًا وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ اَنْهٰـرًا

تېنګه (ټيکاؤ والا) او پيدا کړي دي په مينځ د هغې کښې نهرونه

وَّجَعَـلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ

او پيدا کړيدي د هغې (د ټينګولو) دپاره کلک غرونه او پيدا کړيدي په مينځ

الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ

د دواړو دريابونو کښې پرده، آيا شته څوک د دے کارونو والا له الله تعالىٰ سره،

بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ؕ ﴿٦١﴾ اَمَّنْ

بلکه ډير د دوی نه نۀ پوهيږي. آيا هغه څوک دے

يُّجِيْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَيَكْشِفُ

چه قبلوي دُعا د ډير ناچاره هر کله چه د هغه نه غواړي او لرے کوي

السُّوْٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ ؕ

مصيبتونه او ګرځوي تاسو د يو بل خليفګان په زمکه کښې،

مَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُنْۢبِتُوْا شَجَرَهَا، دا خطاب عام دے ټول مخلوق ته اولياء پکښې داخل دي چه هيڅوک طاقت نه لري چه د زمکے نه ونے بوټي زرغون کړي.

سلا:- په دے آيت کښې ئے شلور صفات د الوهيت ذکر کړي دي چه د الله تعالىٰ نه سوا بل چا کښې نشي کيدے هغه آيت کښې کارونه علويه ذکر وو او په دے کښې د لاندے عالم کارونه ذکر دي.

لَهَا رَوَاسِيَ لفظ د لَهَا دليل دے چه دا غرونه د زمکے د ټينګولو دپاره دي.

حَاجِزًا، منع کوونکے دے د ګډوون د دواړو دريابونو نه او دے ته ئے برزخ هم وئيلے دے په سورة رحمٰن ۲۰ او فرقان ۵۳ کښې.

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِیۡلًا مَّا تَذَکَّرُوۡنَ ؕ ﴿۶۲﴾

آیا شته دَ دے کارونو واکدار دَ الله تعالیٰ سره، ډیر لږ نصیحت قبلوئ تاسو ۔

اَمَّنۡ یَّهۡدِیۡکُمۡ فِیۡ ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ

آیا هغه څوک چه لار ښائی تاسو ته په تیارو دَ اوچه

وَ الۡبَحۡرِ وَ مَنۡ یُّرۡسِلُ الرِّیٰحَ بُشۡرًۢا

او دَ سمندر کښ او څوک چه رالیږی هواګانے زیری ورکوونکی

بَیۡنَ یَدَیۡ رَحۡمَتِهٖ ؕ ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ

مخکښ دَ رحمت دَ هغه نه، آیا دَ دے کارونو واکدار شته دَ الله تعالیٰ سره،

تَعٰلَی اللّٰهُ عَمَّا یُشۡرِکُوۡنَ ؕ ﴿۶۳﴾

لوئے دے الله تعالیٰ دَ هغے نه چه دوی ورسره شریک جوړ وی ۔

س۶۲ :- په دے آیت کښ ئے درے صفتونه دَ الوهیت ذکر کړی دی او په یکښ ئے درے احوال دَ انسان هم ذکر کړی دی. ۱ حاجت غوښتل په وخت دَ مجبورئ کښ ۲ تکلیف لرے کول ۳ غالب کیدل یا اولاد ورکول ۔

اَلۡمُضۡطَرَّ، ډیر عاجزی کوونکے او مجبوره ۔ دَ دے اضطرار په وجه باندے ډیره تضرع کول دی په دُعا کښ نو الله تعالیٰ دَ هغه دُعا قبوله کړی که مؤمن وی او که کافر وی ۔

وَ یَکۡشِفُ السُّوۡٓءَ، دا دلیل دے چه مشکل کُشا صرف یو الله تعالیٰ دے او دا سے په سورۃ انعام س۴۱ او سورۃ یونس س۱۲ کښ ذکر شوی دی ۔

خُلَفَآءَ الۡاَرۡضِ، معنیٰ دا چه تاسو له غلبه درکړی په کافرانو باندے او په عکس دَ دے سره او دَ هغوی دَ زمکو تاسو مالکان او ګرځوی یا معنیٰ دا چه تاسو له اولاد درکوی او دَ یو بل په ځائے باندے مو آباد کړی ۔

س۶۳ :- په یکښ ئے دوه صفتونه ذکر کړی دی ۔

ظُلُمٰتِ الۡبَرِّ وَ الۡبَحۡرِ، هغه صحراګانے او بیا بانونه چه تخے (میلونه)

أَمَّنْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ
آیا هغه څوک چه اول کوي پیدائش بیا دوباره کوي
وَمَنْ يَرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ ط
او څوک روزي درکوي تاسو ته د آسمان او د زمکې نه،
ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ط قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ
آیا د دے کارونو دا کړ ارشته د الله تعالی سره، أو ایه راوړئ یقیني دلیل خپل
اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾ قُلْ لَّا يَعْلَمُ
که تاسو رشتنی یئ - أو ایه نه پوهیږي

پکښ نه وي - او هغه چپې د دریاب چه طرفونه پکښ نه معلومیږي هغې ته يې ظُلُمَات أوئیل او په پکښ د انسان د سفر حالت ذکر کوي او حال د هواگانو يې رچه د انسان ژوند په هغې بانډے بناء دے) ذکر کړیدے.

۶۴:- په پکښ يې درے صفتونه د الوهیت ذکر کړیدي ۱ د انسان خلق اول ۲ او دویم خلق ۳ او رزق ورکول.

قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ، دا واضح دلیل دے چه صدق د خبرے په صحیح دلیل بانډے بناء دے او دا دریم خطاب دے نبي صلی الله علیه وسلم. په دے آیاتونو کښ پنځلس صفاتِ عقلیه د اِلٰه ذکر شول او په ټولو کښ جواب په نفي (لا) سره مراد دے نو حاصل دا شو چه نشته د دے کارونو قدرت لرونکے او کوونکے سوا د الله تعالی نه او دا معنی ده د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ.

فائده:- د دے آیاتونو په فواصلو کښ يې په ترتیب سره حالات د مشرکانو ذکر کړل- اول اوړیدل بغیر د دلیل نه، دویم بے علمي او جهل، دریم نصیحت نه قبلول د وجے د غفلت او عناد نه، څلورم شرک کول، پنځم طلب د دلیل د مشرک او عاجز کیدل د دوی د دلیل نه- او د دے ترتیب او تقسیم یو حکمت دا دے چه د اول دلیل جواب د ټولو اهل عقلو په تیز بانډے واضح دے چه لا دے

مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ
هغه څوک چه په آسمانونو او زمکه کښ دي په غيب باند ے

اِلَّا اللّٰهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُوْنَ اَيَّانَ يُبْعَثُوْنَ ﴿۶۵﴾
سوا د الله تعالیٰ نه، او دوی نه پوهیږی چه کله به دوی دوباره ژوندی کولے شی۔

او سره د دینه دوی نه منی نو د زجر مستحق دی او دویم دلیل کښ داسے امور ذکر دی چه دوی د هغے د علم دعوے کولے لیکن هر کله چه په علم باندے یئے عمل نه کوؤ نو اوئیلے شو چه دوی بے علمه دی او دریم دلیل کښ اشاره ده چه هر کله د انسان نه دا مصیبتونه لرے شی او حاجت ئے پوره شی نو حق ترے هیر شی د دے وجے نه هلته ۶۲ کښ۔
قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ئے او فرمائیل۔ او څلورم دلیل کښ اشاره ده چه په ظلماتو د بحرو بر کښ او په سیلئ طوفانونو کښ به دوی الله تعالیٰ ته آواز کوؤ او هر کله چه په تکلیف لرے کړے شو تو دوی به شرک کوؤ نو د دے وجے نه په ۶۳ کښ ئے تَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ سره اختتام اوکړو۔ او پنځم دلیل سره چه پوره حجت قائم کړے شو نو په آخر کښ د مشرکانو نه دلیل طلب کړے شو۔
۶۵ :۔ په دے آیت کښ دویمه دعوی د سورت ذکر کوی او دا متعلق دے د قصے د موسیٰ او سلیمان علیهم السلام سره او هر کله چه مخکښ آیاتونو کښ قدرت او تصرف خاص کړے شو په الله تعالیٰ پورے او نفی د شرک فی التصرف اوشوه نو اوس په دے آیت کښ علم د غیب خاص کوی په الله تعالیٰ پورے او نفی د شرک فی العلم کوی۔ او دا څلورم خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته۔
الْغَيْبَ، نه مراد هغه څیزونه دی چه په هیڅ سبب سره خودلے شوے نه دی نه په عقل سره او نه په حواسو او نه په وحی سره او دیته غیب حقیقی وائی او د دے سره متعلق قصه قرطبی ذکر کړیده او مطلب ئے دا دے چه کوم یو څیز د انسانانو په علم کښ راشی نو هغے ته غیب نه وئیلے کیږی۔

بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِى الْاٰخِرَةِ قف

بلکه بند دے علم دَ دوی په باره دَ آخرت کښې

مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ، نه مراد ملائیک دی او عیسٰی علیه السلام او ارواح دَ ټولو مؤمنانو چه په علیین کښې دی۔

وَالْاَرْضِ، دلته یې مَنْ دَ اختصار دَ پاره حذف کړے دے او دا آیت صریح نص دے په نفی دَ علم غیب کښې دَ غیر الله نه هم ذاتی او هم عطائی او هم جسمانی او روحانی۔

سوال اول: اِلَّا اللّٰه استثناء منقطع دہ او که متصل دہ او په دواړه حالتونو کښې نصب (زوَر) پکار وو نو دلته ولے مرفوع ذکر شو؟

جواب اول:۔ دا استثناء منقطع دہ په معنیٰ دَ لیکن سره ځکه چه الله تعالیٰ دَ جنس دَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ نه نه دے او رفع په مستثنیٰ په لغت دَ بنی تمیم کښې جائز دہ بناء په بدلیت سره یعنی اِلَّا اللّٰه په اصل کښې بدل دے دَ مَنْ نه او مَنْ په محل دَ رفع کښې دے نو بدل یې هم مرفوع دے او ابن کثیر دا قول نقل کړے دے دَ زجاج او دَ فراء نه۔

جواب دویم:۔ دا دے چه دا استثناء متصل دہ او رفع دَ مستثنیٰ په نیز دَ اهلِ حجازو باندے په حال دَ کلام سلبی کښې جائز دہ۔

دویم سوال:۔ الله تعالیٰ دَ جنس دَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ نه نه دے ځکه چه هغه مخلوق دے او الله تعالیٰ خالق دے نو استثناء متصل څرنګ صحیح کیږی؟

جواب ۱:۔ دا دے چه دَ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ اطلاق په الله تعالیٰ باندے جائز دے په قرینه دَ سورة انعام ۳ سره (په هغه معنیٰ سره چه په سورة انعام کښې مراد دہ) نو استثناء متصله صحیح دہ (كذا فى التفسير نيشاپوری)۔

جواب ۲:۔ دا په فرض او تقدیر باندے بناء دہ یعنی بالفرض که آسمانونو او زمکے والا په غیب باندے علم اولری نو شی به

بَلْ هُمْ فِىْ شَكٍّ مِّنْهَا ۫ بَلْ

بلکه	دَ هغې نه	شک کښ دی	په	دوی	بلکه

دَ نوع دَ الله تعالیٰ نه لیکن ثانی باطل دے (کَ الله تعالیٰ په نوع دَ الوهیت کښ هیڅ شریک نشته) نو مقدم ئے هم باطل شو یعنی آسمانونو او زمکو والا هم په غیب باندے علم نه لری۔

دریم سوال :۔ هر کله چه یو څیز دَ انسان نه پټ وی نو هغه غیب دے او بیائے په عقل یا حواسو یا په ذریعه دَ دلیل وحی سره معلوم کړی نو دَ ده علم وربانډے حاصل شو نو علم دَ غیب ورته حاصل شو ؟

جواب دا دے چه دا اطلاق اگرچه په لغت کښ صحیح دے لیکن په شریعت کښ جائز نه دے ځکه چه دَ لفظِ علم دَ غیب سره ثبوتًا په قرآن او حدیث کښ سوا دَ الله تعالیٰ نه دَ بل چا دَ پاره نه دے مستعمل شوے او اطلاق لغةً سره اطلاق شرعی نه ثابتیږی (کذا فی روح المعانی)۔

دَ دے آیت نه معلومه شوه چه څوک نبی یا ولی یا نجومی وغیره ته دَ علم غیب صفت ثابتوی که روحانی وی یا بدنی وی ذاتی وی یا عطائی وی نو هغه کافر دے ځکه چه دَ دے صریح آیت نه منکر دے دا رنګ شرح فقه اکبر کښ لیکلی دی۔

او حدیث صحیح دَ عائشه رضی الله عنها نه نقل دے چا چه اُوئیل چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ صبا په حالاتو باندے عالم دے پس لوے دروغ ئے په الله تعالیٰ باندے اُوئیل۔

هُمْ مِّنْهَا عَمُوْنَ ﴿۶۶﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

دوی دَ هغے نه پانده دی . او وائی هغه کسان

كَفَرُوْٓا ءَاِذَا كُنَّا تُرٰبًا وَّاٰبَآؤُنَآ

چه کفر ئے کړیدے آیا هر کله چه موږ خاورے شو او پلاران زموږ

اَئِنَّا لَمُخْرَجُوْنَ ﴿۶۷﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا

آیا موږ به خامخا راویستلے کیږو . یقینًا وعده کړے شوے ده

هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ

دا زموږ سره او دَ مشرانو زموږ سره دَ دینه مخکښ

۶۶ :- دا زجر دے په انکار دَ قیامت باندے روستو دَ زجر نه په شرک دَ منکرینو کوم چه په آیت ۶۳ کښ تیر شول .

بَلْ ، یا په خپله معنیٰ سره دے یا په معنیٰ دَ هَلْ استفهامی دے په استفهام انکاری سره .

اِدّٰرَكَ ، دَ دے مفسرینو څلور معانے ذکر کړے دی .

اوله معنیٰ ، بَلْ په معنیٰ دَ هَلْ او ادارك په معنیٰ دَ استحکم دے یعنی آیا مضبوط دے علم دَ دوی په باره دَ قیامت کښ (چه قیامت به نه راځی) .

دویمه معنیٰ ، ادارك په معنیٰ دَ غَابَ سره دے معنیٰ دا ده بلکه غائب دے علم دَ دوی په باره دَ آخرت کښ یعنی علم ئے هغے ته نه رسیږی .

دریمه معنیٰ ، ادارك په معنیٰ تتابع قولهم دے معنیٰ دا چه بلکه پرله پسے دی خبرے دَ دوی په باره (دَ انکار) دَ آخرت کښ .

څلورمه معنیٰ ، ادارك په معنیٰ دَ تساقط دے معنیٰ دا چه بلکه ختم شویدی (اسباب) دَ علم دَ دوی په باره دَ آخرت کښ . عَمُوْنَ مراد ترینه عمی دَ زړه دے چه هغه جهل دے . او لفظ دَ بل دَ ترقی دَ پاره دے او اشاره ده چه په دیکښ دَ منکرینو درے قسمونو ته اشاره ده .

۶۷ ، ۶۸ :- دا هم زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت سره او دا

إِنْ هٰذَآ إِلَّآ أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾

نه دي دا مګر دروغ قصّې دي د زړو خلقو .

قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا

اُووايه اوګرځئ په ځمکه کښې پس اوګورئ

كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾

چه څرنګ شو انجام د مجرمانو .

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُن فِي

او مه خفه کيږه په دوی باندے او مه کيږه په

ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿٧٠﴾ وَيَقُولُونَ

تنګسيا کښې د دوی د چلونو د وجې نه . او دوی وائي

انکار صرف په سبب د استبعاد سره دے يعنې د عقل نه ئې لرے ګڼړي دليل د انکار ورسره نشته . او په دويم کښې اشاره ده چه مسئله د بعث نوره خبره ده ليکن دوی ورته اساطير وائي لکه دے زمانه کښې کميونسټ وائي چه د قيامت خبرے د مليانو ډکوسلے دي . دا سے په سورة مؤمنون ۸۲ کښې هم تير شويږي .

فائده :- هر کله چه په هغه سورت کښې د آباؤ منکرينو ذکر ډير مخکښې تير شويوؤ ځکه د آباء لفظ ئې په هذا باندے روان دے راوړو او دے سورت کښې دا انکار قريب ذکر شو نو هذا ئې مخکښې کړو .

۶۹ :- پدے آيت کښې جواب دے د انکار د هغوی په طريقه د تخويف دنيوی سره . او دا پتخم خطاب دے نبی صلی الله عليه وسلم ته .

۷۰ :- دا تسلی ده پيغمبر ته په انکار د منکرينو او په مکرونو جوړولو د هغوی په مخالفت د نبی صلی الله عليه وسلم کښې او پدے آيت کښې شپږم او اُوم خطاب دے .

مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿٧١﴾

کله به وی دا وعده که چرې تاسو رشتينی يئ .

قُلْ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنَ رَدِفَ لَكُمْ

اُوايه نزدے ده چه را اوبه رسی تاسو ته

بَعْضُ الَّذِيْ تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿٧٢﴾ وَاِنَّ

بعضے هغه عذاب چه تاسو ئے په تلوارے غواړی . او يقيناً

رَبَّكَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ

ستا رب خامخا فضل والا دے په خلقو بانلاے

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾ وَاِنَّ

او ليکن ډير دَ دوی نه شکر نه کوی (دَ الله تعالیٰ) . او يقيناً

رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ

ستا رب خامخا پوهيږی په هغه خبرو چه پټوی ئے سينے دَ دوی

۷۱ :- دا زجر دے منکرينو ته په انکار دَ قيامت سره .

۷۲ :- دا جواب دے په طريقه دَ تخويف دنيوی سره ځکه بَعْضُ الَّذِيْ نه مراد عذاب دَ دنيا دے .

رَدِفَ ، روستو پيوست . راتللو ته وټيلے شی لکه رديف په سورلئ بانلے هغه چا ته وټيلے شی چه روستو په بل ملګری پسے پيوست په يو سورلئ بانلے سور وی . دلته مراد تر رارسيدل دی . او دا اتم خطاب دے .

۷۳ :- دا هم زجر دے چه الله تعالیٰ دَ دوی نه عذاب روستو کوی په فضل خپل سره ليکن دوی دَ دے فضل شکر نه کوی . او دا نهم خطاب دے .

وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿۷۴﴾ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ

او په هغه چه دوی ئې ښکاره کوی۔ او نشته هیڅ پټه (خبره او خصلت)

فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِلَّا فِيْ كِتَابٍ

په آسمان او او زمکه کښ مگر په کتاب

مُّبِيْنٍ ﴿۷۵﴾ اِنَّ هٰذَا الْقُرْاٰنَ يَقُصُّ

ښکاره کښ ده۔ یقیناً دا قرآن بیانوی

عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اَكْثَرَ الَّذِيْ

په بنی اسرائیلو باندے ډیرے داسے مسئلے

هُمْ فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۷۶﴾ وَاِنَّهٗ لَهُدًى

چه دوی په هغے کښ اختلاف کوی۔ او یقیناً دا قرآن خامخا هدایت

۷۴:۔ دا دلیل عقلی دے او رد دے په شرک فی العلم باندے۔ او دا لسم خطاب دے۔

او جواب ئې هم دے که څوک وهم اوکړی چه دوی ته عذاب ځکه روستو دے چه کیدیشی الله تعالیٰ ته دَ دوی علم نه وی نو په دوه آیاتونو کښ دَ دے جواب ورکوی۔

پدے آیت کښ خصوصی علم ذکر کوی او ورپسے آیت کښ عمومی علم دَ الله تعالیٰ ذکر کوی۔

۷۵:۔ دا هم دلیل عقلی دے او رد دے په شرک فی العلم باندے۔ او کِتَابٍ مُّبِيْنٍ نه مراد لوح محفوظ دے او دَ دواړو دلیلونو مطلب دا دے چه الله تعالیٰ دَ حالاتو دَ دے منکرینو نه ښهٔ خبر دے لیکن مهلت ورکوی په سبب دَ فضل سره۔

۷۶:۔ دا ترغیب الی القرآن دے۔ او هرکله چه بعضے دَ غائب څیزونو نه اختلافات دَ بنی اسرائیلو وو نو په دے آیت کښ ئې اشاره اوکړه چه دغه قسم غائبات په قرآن کریم سره ښکاره کیږی۔ او پدے کښ اشاره ده چه واقعات دَ سلیمان علیه السلام بنی اسرائیلو

وَرَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿۷۷﴾ إِنَّ رَبَّكَ
او رحمت دے دپارہ دَ مؤمنانو۔ یقینًا ستا رب
يَقۡضِي بَيۡنَهُم بِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ الۡعَزِيزُ
فیصلہ بہ اوکړي په مینځ دَ دوی کښ په حکم خپل سره او هغه زور آور دے
الۡعَلِيمُ ﴿۷۸﴾ فَتَوَكَّلۡ عَلَى اللَّهِۖ إِنَّكَ
پوهه دے په هر څه باندے۔ نو ځان اوسپاره په الله تعالی باندے، یقینًا ته
عَلَى الۡحَقِّ الۡمُبِينِ ﴿۷۹﴾ إِنَّكَ
په حق ښکاره باندے یې۔ یقینًا ته
لَا تُسۡمِعُ الۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ الصُّمَّ
او رول نشې کولے (کافرانو) ته چه دَ) مړو پشان وی او اورول نشې کولے (کافرانو) چه دَ کنړو
الدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡا مُدۡبِرِينَ ﴿۸۰﴾
پشان دی کله چه اوګرځی دوی شا کوونکی۔

پټ کړے او بدل کړے وو۔ او په سلیمان علیه السلام یې دروغ وتړلو نو په دے سورت کښ دَ هغې بیان اوشو۔

۷۷:۔ دا هم ترغیب دے قرآن ته په ذکر دَ دوو صفتونو جامعو سره۔

۷۸:۔ دا تسلی ده رسول ته او متعلق دے دَ یختلفون سره۔ او دا یولسم خطاب دے او دَ حکم نه مراد قرآن دے نو دا فیصله دنیوی ده او ترغیب دے قرآن ته یا دَ حکم نه مراد فیصله دَ آخرت ده نو دا تخویف اخروی دَ مخالفینو ته۔

۷۹:۔ دا هم تسلی او تشجیع ده رسول ته په مقابله دَ اختلاف کوونکو کښ۔ او دا دولسم او دیارلسم خطاب دے۔ فَتَوَكَّلۡ، فاء دَ پاره دَ تفریع ده چه درے صفتونه دَ الله تعالی باندے چه مخکښ آیت کښ ذکر شول۔

۸۰، ۸۱:۔ دا هم تسلی ده رسول الله ته او څوارلسم او پنځلسم او شپاړسم او اوولسم خطاب دے او جواب دَ وهم دے چه هر کله دَ دے رسول

وَمَآ اَنۡتَ بِهٰدِی الۡعُمۡیِ عَنۡ

او ته نه یې هدایت کوونکے (کافرانو ته) چه د ړندو پشان دی (چه بیچ یې کړے) د

ضَلٰلَتِهِمۡؕ اِنۡ تُسۡمِعُ اِلَّا مَنۡ یُّؤۡمِنُ

ګمراهۍ د دوی نه، نه شې کولے اوروِل مګر هغه چاته چه ایمان لری

بِاٰیٰتِنَا فَهُمۡ مُّسۡلِمُوۡنَ ﴿۸۱﴾ وَاِذَا وَقَعَ

په آیاتونو زمونږ پس دوی تابعداری کوی. او هر کله چه پوره شی فیصله

دعوت حق مبین دے تو دا پدے کافرو خلقو کښې اثر ولے نه کوی؟
نو جواب اوشو حاصل دا چه ستا بیان په دوی کښې تاثیر نه کوی د دے
مانع د دوی د طرف نه دے ستا د طرف نه هیڅ نقصان نشته هغه دا
چه دوی پشان د مړو دی او د مړی ټول حواس او عقل بے کاره وی
یعنی نه آوری او نه وینی او نه پوهیږی په عقل سره او دا رنګ
دوی پشان د کڼړو دی او د کونړ حاسه د اوریدلو بے کاره ده او دا رنګ
دوی پشان د ړندو دی چه حاسه د لیدلو ئې بے کاره ده یعنی د علم
اسباب زړه، (عقل) او غوږونه او سترګے دی او هغه لکه چه د
مړی او کونړ او ړوند بے کاره دی دا سے د دے کافرانو هم دی
نو دا پشان د خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰی سَمْعِهِمْ وَعَلٰی
اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ" بقره ۷ کښې دے.
هر کله چه مړے او کونړ په تا اوریدلو کښې شریک دی نو هغه دواړه
ئې یو ځائے ذکر کړل او دواړو سره ئې لا تسمع ذکر کړے دے
یعنی تشبیه ده د کافرانو عنادیانو د مړو او د کڼړو سره په نه
اوریدلو کښې. دا درے تشبیهات په طریقه د تنزل سره دی یعنی
اوله اعلیٰ تشبیهه ده ځکه چه په مړو کښې هیڅ حاسه نشته او په
کونړ کښې صرف د اوریدلو حاسه نشته خو چه نه اوری نو سوچ او فکر
په ځړنګ اوکړی او په ړوند کښې صرف حاسه د لیدلو نشته او ریدل
او فکر خو کولے شی یا دا تشبیهات په اعتبار د درے قسمو نو د منکرینو
سره دی. زیاتی مسئله د مړو د اوریدلو او نه اوریدلو به انشاء الله

الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً

دَ عذاب په دوی باندے را اوباسو به موږ دوی لره يو ځناور

مِّنَ الْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ

دَ زمکے نه خبرے به کوی دَ دوی سره (څکه چه) يقينًا خلقو به

كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿۸۲﴾

په آياتونو زموږ باندے يقين نه لرلو ۔

تعالٰی په تفسير دَ سورة روم کښ تفصيلًا راځی)۔

إِذَا وَلَّوْا، دا دَ زيات تاکيد دَپاره دے يعنی کونړ نه آوری او هرکله چه شا اوکرځوی بيا بلکل نه اوری نو دا رنګ دے کافرانو هم قرآن ته شا کرځولے ده۔

عَنْ ضَلَالَتِهِمْ، متضمن دے معنٰی دَ بچ کولو لره۔

إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُمْ مُسْلِمُونَ، معلومه شوه چه ايمان کامل والا دَ قرآن نه پوره فائده اخستلے شی۔ په دے آيت کښ ايمان تصديق دَ قلب دے او اسلام ظاهری اعمال او طاعت کول دی او اسماع نه مراد اسماع دَ فائدے ورکولو ده۔

۸۲: دا تخويف دنيوی دے په سبب دَ عدم ايمان بالآيات والقرآن۔ او مراد دَ وقوع دَ قول نه فيصله دَ غضب دَ الله تعالٰی ده په عدم قبوليت دَ توبے او دَ ايمان سره۔ او نقل دی دَ ابوسعيد خدری په روايت سره چه هغه وخت به هله راځی چه ټول خلق په امر بالمعروف او نهی عن المنکر پريږدی۔ او دَ عبدالله بن مسعود په روايت سره هغه وخت دے چه علماء حق مړه شی او علم دَ دين او دَ قرآن به پاتے نشی۔ هرکله چه داسے وخت راشی نو بيا به توبه نه قبليږی او مؤمنان به نه پيدا کيږی لکه چه نوح عليه السلام ته وحی اوکړے شوه (إِنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ (هود ۳۶) نو دغه وخت به دَآبَّة دَ زمکے نه پيدا شی۔

په حديث دَ مسلم کښ ذکر دی چه درے علامات دَ قيامت چه ښکاره

وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا

او په کومه ورځ چه راجمع به کړو دَ هر امت نه یو ډله

مِّمَّنْ يُّكَذِّبُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ

دَ هغه چا چه دروغژن ګڼړی آیاتونه زمونږ پس دوی به

شي تو بيا به ايمان نه قبليږي تمر دَ مغرب نه راختل او دجّال او دابة الارض۔

او دا رنګ بیل حدیث دَ مسلم کښ علامات دَ قیامت لس ذکر کړے دی او په هغے کښ یو دابة الارض ده نو معلومه شوه چه دابة الارض به ضرور راځی لیکن دَ هغے شکل او دَ هغے دَ خروج مکان او نور تفصیلی احوال په صحیح روایاتو سره ثابت نه دی (اګرچه تفسیر قرطبی او نور مفسرینو لیکلی دی) نو پدے باندے ایمان اجمالی کافی دے، او چا چه دَ دے مصداق عمر رضی الله عنه یا بل داعی دَ حق ګرځولے دے نو هغه تفسیر قرطبی په ډیرے سختئ سره رد کړیدے۔

تُكَلِّمُهُمْ ۙ اَنَّ النَّاسَ، پدیکښ درے توجیهات دی۔

اوله توجیه دا ده چه اَنَّ دویم مفعول دے دَ تُكَلِّمُهُمْ۔ او باٰیٰتِنَا کښ باٰیات ربنا مراد دے معنیٰ دا شوه دا دابة به خبر ورکوی چه خلق په آیاتونو دَ رب زمونږ یقین نه کوی دَ دے وجے نه زهٔ بے را اولیږلم۔

دویمه توجیه دا ده تُكَلِّمُهُمْ، دَ پاره مفعول حذف دے بِبُطْلَانِ الْاَدْيَانِ كُلِّهَا سِوَى الْاِسْلَامِ او بِعَدَمِ قَبُوْلِ تَوْبَتِهِمْ۔ او اَنَّ متعلق دے په اَخْرَجْنَا پورے معنیٰ دا ده چه دا دابة خبر ورکوی خلقوته دَ ابطال دَ ټولو دینونو سوا دَ دین اسلام نه یا به خبر ورکوی په نه قبلیدلو دَ توبے دَ دوی سره۔ او دابة به دے وجے سره راوباسو چه خلق زمونږ په آیاتونو باندے یقین نه لری۔

دریمه توجیه دا ده چه تُكَلِّمُهُمْ په معنیٰ لغوی سره دے یعنی جرح به کوی په انسانانو دَ هغه وخت باندے پدے خبره چه اَنَّ النَّاسَ آه او باٰیٰتِنَا نه مراد اٰیات ربنا دے

يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتّٰىٓ اِذَا جَآءُوْ قَالَ

حصے حصے کړیشي. تر هغې پورې چه کله دوی راشي او به وائي الله تعالیٰ

اَكَذَّبْتُمْ بِاٰيٰتِيْ وَلَمْ تُحِيْطُوْا بِهَا

آیا تاسو دروغژن کنړل آیاتونه زما او حال دا چه نه وو راګیر کړی تاسو هغې لره

عِلْمًا اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٨٤﴾

په علم خپل کښ بلکه څه دی هغه چه تاسو کول.

وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ بِمَا ظَلَمُوْا

او رابه شي فيصله دَ عذاب په دوی باندے په وجه دَ ظلم دَ دوی

فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ ﴿٨٥﴾ اَلَمْ يَرَوْا اَنَّا

نو دوی به خبرے نشي کولے. آیا نه ګوری دوی چه یقیناً

جَعَلْنَا الَّيْلَ لِيَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ

ګرځولے ده مونږ شپه (زمانے والا) چه آرام اوکړی دوی په هغې کښ او ورځ

سه ۸۳:۔ دَ دے آیت نه تخویف اخروی شروع دے دَ آیاتِ الٰهیه مکذبینو دَپاره۔

يُوزَعُوْنَ، بند به کړے شي په یو ځائے کښ بیا به بوتللے شي میدان دَ حساب ته۔

سه ۸۴:۔ دَ تکذیب په باره کښ تپوس او زورنه ده چه بغیر دَ علم او تحقیق نه ولے تکذیب کوے یعنی اول خو انسان په یو خبره ځان پوهه کړی نو روستو دَ هغې نه بیا تصدیق یا تکذیب کوی۔

اَمَّاذَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ، یعنی سِوا دَ تکذیب نه نور هم تاسو نا کاره عملونه کول۔ اَمَّا په اصل کښ اَمْ مَا دے۔

سه ۸۵:۔ پدے کښ هم تخویف اخروی دے۔

وَقَعَ الْقَوْلُ، یعنی فیصله دَ عذاب په دوی باندے واجبه شوه۔

فَهُمْ لَا يَنْطِقُوْنَ، یعنی حجة او دلیل به نشي پیش کولے یا مراد دا

مُبۡصِرًا ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّقَوۡمٍ

رڼا والا چه کسب او کړي په هغې کښې) یقینًا په دې کښې ډیر دلیلونه دي هغه قوم لره

یُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۸۶﴾ وَ یَوۡمَ یُنۡفَخُ فِی الصُّوۡرِ

چه ایمان راوړي. او په کومه ورځ چه پوکے او کړيشي په شپیلۍ کښې

فَفَزِعَ مَنۡ فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَنۡ فِی الۡاَرۡضِ

نو کبراؤ به شي هغه څوک چه په آسمانونو کښې دي او هغه څوک چه په زمکه کښې دي

اِلَّا مَنۡ شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَ کُلٌّ اَتَوۡهُ

مګر هغه څوک چه الله تعالی غواړي (د هغوی بچ کول). او ټول به راځي هغه ته

دٰخِرِیۡنَ ﴿۸۷﴾ وَ تَرَی الۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا

عاجزي کوونکي. او وینې به ته غرونو لره ګمان به کوې ته په هغې باندې

چه په خوله باندې به ئې مهر او وهلے شي.

۸۶:- هر کله چه مخکښې زجر او تخویف په انکار د آیات قرآنیه باندې ذکر وؤ. اوس زجر ورکوي په انکار د آیات عقلیه سره او دا رنګ په دې کښې دلیل دے د پاره د اثبات د بعث بعد الموت.

یُؤۡمِنُوۡنَ، یعني هغه څوک چه یقین کوي چه دا تصرفات د الله تعالی دي په دې آیت کښې یو یو څیز په هر جانب کښې پټ دے اللیل سره لظلما او د مبصرا سره تبتغوا من فضله پټ دے.

۸۷:- د دې آیت نه تخویف اخروي شروع دے او د دې حالات ئې په دې آیت کښې ذکر کړے دي. صحیح دا ده چه نفخ في الصور دوه ځله ده اول د فناء د پاره او دویمه د بعث د پاره - او فزع او صعق بے هوشي دے او مراد د دیته اوله شپیلۍ ده د پاره د فنا ځکه چه وړیے د غرونو حال ئې ذکر کړے دے او هغې ته فزع او صعق هم وائي ځکه چه ویره او بے هوشي به اول راشي نو بیا به مړه شي - په اِلَّا مَنۡ شَآءَ اللّٰهُ کښې اختلاف دے بعضو ویلي دي شهداء دي او انبیاء علیهم السلام په کښې هم داخل دي او بعضو ویلي دي مراد ترینه ملائیک دي او بعضو

جَامِدَةً وَّهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ؕ

کلک په ځائے باندے او هغه به تیریږی پشان د تیریدلو د وریځے،

صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ؕ

جوړښت د الله تعالیٰ دے هغه ذات چه مضبوط کړیدے هر څیز،

اِنَّهٗ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۸۸﴾

یقیناً الله تعالیٰ خبردار دے په هغه کارونو چه تاسو ئے کوئ۔

وئیلے دی چه مراد ترینه کامل مؤمنان دی په قرینه د ۸۹ سره۔
مطلب دا دے چه فنا نه روان دے کومه فزع او گبراهټ راځی نو
دوی په د هغې نه مستثنیٰ دی۔ بالفرض که دوی هغه وخت موجود وی۔
وَكُلٌّ اَتَوْهُ، کل په معنیٰ کښ جمع دے نو ضمیر د جمع ورته راجع
کول صحیح دی او پدے تفسیر اَتَوْهُ دٰخِرِيْنَ۔ نه فنا او مرګ
قبلول دی۔
دویم قول دا دے چه دا نفخ فی الصور په ورځ د محشر ده روستو
د بعث نه او فزع په معنیٰ د صعق (بے هوشی) دے۔
۸۸:۔ دا د احوالو د قیام د قیامت نه هیبت ناک څلورم حال دے۔
تَحْسَبُهَا جَامِدَةً، یعنی اوس ته ګمان کوے چه دا غرونه ډیر کلک
دی او حال دا چه دا به د وریځو پشان روان شی یا دا چه په هغه وخت
به ته ګمان کوے چه دا غرونه پخپل ځائے باندے ولاړ دی او حال
دا چه روان به وی ځکه چه غټ جسم چه حرکت کوی نو انسان په
هغې باندے نه پوهیږی۔
امام قرطبی د غرونو حالات چه په وخت د قیام ساعت کښ به وی
په ترتیب سره ذکر کړے دی۔ اول اِنَّهَا دُكَّتَا دَكَّةً وَّاحِدَةً)
دویم كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ۔ دریم هَبَاءً مَّنْثُوْرًا۔ څلورم نسف۔
پنځم مرالسحاب۔ شپږم سراب۔
صُنْعَ اللّٰهِ، مفعول مطلق دے د فعل یا انظروا محذوف دے یعنی
اوګورئ جوړښت د الله تعالیٰ نه غرونو وغیره لره۔

مَنۡ جَآءَ بِالۡحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيۡرٌ
چا چه راتله اوکړو په ښه (خصلت) سره نو دۀ لره بدله به وی
مِّنۡهَا ۚ وَهُمۡ مِّنۡ فَزَعٍ يَّوۡمَئِذٍ
دَ هغې دَ وجې نه او دوی به دَ ګبراهټ دَ دغه ورځې نه
اٰمِنُوۡنَ ﴿٨٩﴾ وَمَنۡ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ
امن والا دی۔ او چا چه راتلل اوکړل په بدې سره
فَكُبَّتۡ وُجُوۡهُهُمۡ فِى النَّارِ ؕ هَلۡ
نو اوغرځولے به شي مخونه دَ دوی په اُور کښ بدله نشي
تُجۡزَوۡنَ اِلَّا مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٩٠﴾
درکیدلے تاسو ته مګر دَ هغه عملونو چه تاسو کول۔

كُلَّ شَىۡءٍ، نه مراد غرونه او دَ هغې ټکړے دی یا هر څیز مراد دے او اتقاق نه مراد مناسب او په حکمت سره جوړول دی۔

س۸۹:۔ دا دَ احوالو دَ بعث بعد الموت نه پنځم حال دے او بشارت دے مؤحدینو لره۔

حَسَنَةٍ کلمه دَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دہ۔ خَيۡرٌ مِّنۡهَا من اَجۡلِيَّه دے یعنی بهتر جزاء به وی دَ وجې دَ کلمے دَ توحید نه۔

مِنۡ فَزَعٍ يَّوۡمَئِذٍ، دا فزع دَ ورځ دَ قیامت دَ مخکښ نه جدا دہ ځکه چه ورځ دَ قیامت ډیر هیبتونه دی یو دَ هغې نه ذبح دَ موت دہ۔ دلته صعق مراد نه دے ځکه چه هغه صعق او بیا اقامت په ټولو مؤمنانو باندے هم راځي۔

س۹۰:۔ دا تخویف اخروی دے او په دیکښ شپږم حال ذکر کوی۔ او السئیة نه مراد شرک او کفر دے۔

هَلۡ تُجۡزَوۡنَ اِلَّا مَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ، اشاره دہ چه دا جزا په شان دَ عمل دَ دوی دہ دوی دَ الله تعالیٰ دین لره اُلټه کړے وو نو دوی به هم اُلټه کړے شي او دا رنګ سورۃ شعراء کښ تیر شویدی

إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هٰذِهِ

بیشکه امر کړے شوے دے ماته چه خاص بندګی دِ اوکړم دَ مالک دَ دے

الْبَلْدَةِ الَّذِی حَرَّمَهَا وَلَهٗ كُلُّ

ښار هغه ذات چه عزت ئے ورکړے دے او دَ هغهٔ اختیار کښں هر

شَیْءٍ ۫ وَّأُمِرْتُ أَنْ أَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ ﴿۹۱﴾

څهٔ دی او ماته امر کړے شوے دے چه زهٔ شم دَ تابعدارئ کوونکو نه ۔

وَأَنْ أَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ ۚ فَمَنِ اهْتَدٰی

او چه بیا نوؤم قرآن پس چا چه هدایت او موندلو

فَإِنَّمَا یَهْتَدِیْ لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ ضَلَّ

نو یقینًا هدایت مومی خپلے فائدے لره او څوک چه ګمراه شو

سلا:۔ هرکله چه هیبت دَ قیامت ذکر کړے شو نو دَ هغے نه دَ بچ کیدلو دَ پاره طریقه ذکر کوی او دا وحی دلیلونه دی. إِنَّمَآ أُمِرْتُ، یعنی توحید عقیدةً او عملاً پابندے ماته امر کړے شوے دے۔

رَبَّ هٰذِهِ الْبَلْدَةِ، دا اول دلیل دے او وَلَهٗ كُلُّ شَیْءٍ، دا ورپسے دویم دلیل دَ توحید دے. هرکله چه دوه امرونه دی دَ دے وجے نه دوه دلیلونه ئے ذکر کړل۔

مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ، مراد دا دے چه دَ توحید عملونه ښکاره کولو پابند ے مامور یم لکه په سورة انعام سـ۱۶۳ کښں. دَ بَلْدَةِ تخصیص دَ دے وجے نه اوشو چه هغهٔ دَ مشرکانو په نظر کښں معظم ده محبوبه ده نو دَ هغے رب به هم ضرور معظم او معبود وی او دا رنګ بعضے روایاتو کښں منقول دہ چه دابۃ الارض به دَ زمکے دَ مکے نه را اوځی دَ دے وجے نه خاص کړے شوه په ذکر سره پدے سورت کښں .

فائده :۔ هرکله چه پدے سورت کښں خطابات دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کړے شول په سـ۶، سـ۵۹، سـ۶۵، سـ۶۹، سـ۷۰، سـ۷۲، سـ۷۳، سـ۷۴، سـ۷۸، سـ۷۹، سـ۸۰، سـ۸۱ کښں نو دَ دے آیت په اول کښں قُلْ مقدر دے او متعلق دے دَ هغه

فَقُلْ اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۹۲﴾

نو اوايه يقينًا زۀ دَ ويره وركوونكو نه يم۔

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ

او اوايه ټول صفتونه دَ خدايئ خاص الله تعالىٰ لره دي ژر به چه اوبه ښائي تاسو ته دليلونه خپل

فَتَعْرِفُوْنَهَا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ

پس تاسو به ئې اوپيژنئ ، او نه دے ستا رب غافل

عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾ ع ۲

دَ هغه عملونو نه چه دوي کوي۔

خطاباتو سره۔ او دا اتلسم خطاب دے۔

۹۲:۔ دا هم دليل وحي دے دَ اُمِرْتُ دَ لاندے داخل دے۔ نولسم خطاب دے په تقدير دَ قل سره۔ فَقُلْ شلم خطاب دے۔ او تلاوت په طريقه دَ دعوت سره مراد دے اشاره ده چه وضاحت دَ توحيد په قرآن بيانولو سره دے۔

وَ مَنْ ضَلَّ فَقُلْ، اصل جزا مقدر ده فَيَضِلُّ عَلَيْهَا او فَقُلْ آه دَ پاره دَ براءت دَ نبي صلى الله عليه وسلم دے دَ ذمه وارئ دَ ګمراهانو نه۔

۹۳:۔ دا دعوىٰ دَ توحيد ده لکه چه دا تفريع ئې ذکر کړے وه په احوالو دَ انبياؤ سابقينو باندے په ۵۹ کښ نو اوس دا تفريع شوه په دليلونو دَ توحيد او په ذکر دَ احوالو دَ قيامت باندے۔ دا يويشتم خطاب دے۔

اٰيٰتِهٖ، دَ دينه مراد هغه نمونے دَ عذاب دنيوي دي په مختلفو قومونو مکن بينو باندے۔

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ، هم دَ دے تائيد دے يا مراد دَ دينه نور دليلونه دَ توحيد دَ الله تعالىٰ دي او دا دوه ويشتم خطاب دے۔

(تَمَّ تفسير سورة النمل بحمد الله تعالىٰ وکرمه)

سورة القصص مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتها ۸۸ رکوعاتها ۹

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

طٰسٓمّٓ ﴿۱﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ

الله تعالیٰ بندهٔ پوهیږی د دے په معنیٰ باندے۔ دا آیاتونه د هغه کتاب دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة القصص

ربط :- د دے سورت د سورة النمل سره په ډیرو وجوهو سره دے۔

اوله وجه دا ده چه مخکښ سورت کښې اثبات د توحید اوشو په دلیلونو نقلیو او عقلیو سره نو په دے سورت کښې تسلی او تشجیع ده نبی او مؤمنانو ته په رسولو د دے مسئلے سره او بشارت دے په کامیابئ سره۔

دویمه وجه سورة الشعراء او سورة النمل کښې د موسیٰ علیه السلام د قصے نه ابتداء نه وه ذکر کړے او س پدے سورت کښې د موسیٰ علیه السلام د ولادت د حال نه شروع کوی۔

دریمه وجه دا چه د هغے سورت په آخر کښې سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ يے فرمائيلے وو نو پدے سورت کښې د هغه آیاتونو نه واقعه د هلاکت د فرعونیانو ذکر کوی۔

دعویٰ :- د دے سورت دا ده تسلی ده اهل حق ته په کامیابئ سره روستو د تیرولو د مصیبتونو نه په دعوت د توحید کښې او د دے د پاره مثال نعمتونه دی په بنی اسرائیلو باندے او عذابونه دی په دشمنانو باندے یعنی فرعون، هامان او قارون۔ او په سورت کښې اثبات د توحید دے په عقلی دلیلونو سره او په رد د دریے اقسامو د شرک سره چه شرک فی العلم او فی التصرف او فی الدعاء دے۔

خلاصه د دے۔ دا سورت تقسیم د دے دریے بابونو ته۔

الْمُبِيْنِ ۝۲ نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ

چه وضاحت کوونکے دَحق او باطل دے. بیانوو موږ په تا باندے بعضے دَ خبر

مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ

دَ موسٰی علیه السلام او فرعون ته په رښتیا (دَتسلئ دَپاره) دَ هغه قوم

يُّؤْمِنُوْنَ ۝۳ اِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى الْاَرْضِ

چه ایمان راوړی. یقینًا فرعون لوئی کړیوه په ملک کښں

وَجَعَلَ اَهْلَهَا شِيَعًا يَّسْتَضْعِفُ

او جوړ کړے وو اوسیدونکی دَ هغے ډیرے ډلے کمزورے کوله یو

اول باب تر ۴۳ پورے دے په دیکښں اول ترغیب دے قرآن ته بیا دعوی دَ سورت ده. بیا اجمال دَ قصے دَ موسٰی علیه السلام دے په ذکر دَ پنځه نعمتونو سره په بنی اسرائیلو باندے، او ذکر دَ نعمت په فرعونیانو باندے دَوجے دَ شپږ ظلمونو نه بیا قصه دَ موسٰی علیه السلام چه تقسیم ده پنځه مقاماتو ته.

تفسیر:- ۱:- دا دَ مقطعاتو نه دے دَپاره دَ تنبیه په اعجاز دَ قرآن کریم باندے.

۲:- دا ترغیب دے قرآن کریم ته او اَلْمُبِيْنِ کښں اشاره ده چه په دے سورت کښں تفصیل دَ واقعے دَ موسٰی علیه السلام دے.

۳:- دا دعوی دَ سورت ده یعنی تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو ته. یعنی په واقعه دَ موسٰی علیه السلام او دَ فرعون کښں مؤمنانو دَپاره فائدے او بشارت او تسلی ده چه تکبر او لوبی او ډیر والے دَ مال او جاه دَعذاب نه بچ کول نشی کولے. او حق پرستو باندے مصیبتونه راځی او الله تعالی په کامیابی ورکوی.

طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ
يو ډله د هغوی نه حلالول ئې ځامن د هغوی
وَيَسْتَحْيِ نِسَآءَهُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ
او بې حيا کولې ئې ژنانه د هغوی، يقيناً دے وو
مِنَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۴﴾ وَنُرِيْدُ اَنْ نَّمُنَّ
د فساد کوونکو نه۔ او مونږ غوښتل چه احسان اوکړو
عَلَى الَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْا فِي الْاَرْضِ
په هغه کسانو باندے چه کمزوری کړے شوو په ملک کښې
وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً وَّنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ ﴿۵﴾
او جوړ کړو مونږ دوی لره مشران د دين او جوړ کړو دوی لره وارثان د زمکے۔

ف ۴:۔ په دے آيت کښې د فرعونيانو شپږ جرمونه ئې ذکر کړے دی۔
عَلَا فِي الْاَرْضِ، تکبر په دعوی د ربوبيت او د الوهيت سره۔
شِيَعًا، دا سے دے چه هغوی د يو بل سره تعصب او ضد کوی او دا رنګ بعضو له عزت او اقتدار کښې حصّه ورکول او د بعضو نه خدمتونه اخستل۔
يُذَبِّحُ اَبْنَآءَهُمْ، په دے کښې دواړه کړنه داخل دی يعنی د سورة بقره ۴۹ او د سورة اعراف ۱۲۷
الْمُفْسِدِيْنَ، مراد دا دے چه کفر او د شرک اشاعت به ئې کولو او د توحيد او د تابعدارئ د موسیٰ عليه السلام نه ئې خلق منع کول۔
ف ۵:۔ دا ذکر د انعاماتو دے په بنی اسرائيلو باندے په دے آيت کښې درے انعامات ذکر شوے دی او دیته انقلابی انعامات ویلے کیږی۔ اول دا چه ضعف او کمزوری د دوی بدلوی په قوت ورکولو سره، او په دے کښې هغه انعاماتو ته اشاره ده کوم چه په سورة بقره کښې ذکر کړے شوے دی۔
دويم وَنَجْعَلَهُمْ اَئِمَّةً، مراد د دينه دعوت کوونکی دی دين حق ته

وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ

او چه طاقت ورکړو دوی لره په ملک کښ او او ښایو

فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا مِنْهُمْ

فرعون او هامان او لښکرو د هغوی ته د طرفه د بنی اسرائیلو

مَّا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ ⑥ وَأَوْحَيْنَآ إِلٰٓى أُمِّ

هغه شے چه دوی تر ینه ویره کوله۔ او خودنه اوکړه مونږ مور د

مُوْسٰٓى أَنْ أَرْضِعِيْهِ ۚ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ

موسیٰ علیه السلام ته چه پئ ورکوه دهٔ لره پس هر کله چه ویریږے په دهٔ باندے

فَأَلْقِيْهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِيْ وَلَا تَحْزَنِيْ ۚ

نو واچوه دهٔ لره په دریاب کښ او مه ویریږه (د دهٔ د مرګیدلو نه) او مه خفه کیږه (د دهٔ په جدائی)

إِنَّا رَآدُّوْهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ

یا (کئ) یقیناً مونږ واپس راګرځوؤ دهٔ لره تا ته او جوړ وؤ دهٔ لره د

لکه سورة الم سجده ۲۴ کښ ذکر دی۔ او دیکښ اشاره ده چه په دین کښ مقتدا جوړیدل لوے انعام الٰهی دے۔
دریم وَنَجْعَلَهُمُ الْوٰرِثِيْنَ، د دے ذکر په سورة اعراف ۱۳۷ کښ تیر شوے دے۔
۶ :- په دیکښ دوه انعامات دی۔ اوّل دا چه علاوه د وراثت د مصر نه نورو ملکو نو کښ قدرت ورکول لکه چه په زمکه د شام کښ ئے هم دوی ته تسلط ورکړو۔ دویم نُرِيَ فِرْعَوْنَ آه،
مَا كَانُوْا يَحْذَرُوْنَ، چه هغه زوال د بادشاهئ د فرعون دے په سبب د بو ولد د بنی اسرائیلو چه هغه دوی ته په ذریعه د بنی اسرائیلو یا په خوب د فرعون سره معلوم شوے وؤ۔ او فرعون د هغے ویرے نه ذبح د ابناؤ د بنی اسرائیلو کوله۔

الْمُرْسَلِيْنَ ۞ فَالْتَقَطَهٗٓ اٰلُ فِرْعَوْنَ

پیغمبرانو نه | پس راواوچت کړو دهٔ لره کورنئ دفرعون رعاقبت دا

لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ؕ اِنَّ

چه شي | دوی لره | دشمن | او | غم ، | یقینًا

فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا

فرعون | او هامان | او لښکرې دهغی دواړو | وو دوی

خٰطِـِٕيْنَ ۞ وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ

خطاکار ۔ | او اُوئیل | ښځې | دَ | فرعون

قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ؕ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ

یخ والے دَ سترګو زما | او ستا دے ، | مه وژنه | دهٔ لره

ک خلاصه :۔ دَ دے آیت نه تفصیل دَ قصّې دَ موسیٰ علیه السلام دے
او دَ دے نه مقام اول دے تر ۱۳ پورے ، په دیکښې ذکر دَ مصیبت
دے په مور دَ موسیٰ علیه السلام باندے سره دَ بشارتونو اوکرامتونو
نه او سبب دَ رسیدلو دَ موسیٰ علیه السلام دے دَ فرعون کورته او بیا
واپس دَ مور غیږے ته او دا احوال دَ صغر (وړوکوالی) دی ۔
تفسیر په دے آیت ک کښې دوه اوامر او دوه نواهی او دوه بشارتونه
ذکر دی ۔ او وحی نه مراد الهام دے په طریقه غائبانه سره یا په
واسطه دَ ملک سره او دیته کرامت وئیلے کیږي ۔ او په دیکښې ذکر دَ
مصیبت دے سره دَ بشارت نه ۔
ک ۸ :۔ په دے آیت کښې اشاره ده چه بعضے وخت کښې عمل دَ یو
شخص دَ ضرر دَ پاره سبب اوګرځي ۔
لِيَكُوْنَ ، دیته لام عاقبت وئیلے کیږي ۔ خٰطِـِٕيْنَ ، خطا شوے وو
په تربیت دَ موسیٰ علیه السلام کښې ، یا مشرکان اوګنهګاران وو ۔
او په دے آیت کښې مصیبت ظاهرًا ذکر شو ځکه چه دَ موسیٰ علیه السلام کور
دَ فرعون ته ورتلل ظاهرًا سبب دَ خفګان دَ مور وو ۔

عَسٰۤى اَنۡ يَّنۡفَعَنَاۤ اَوۡ نَتَّخِذَهٗ وَلَـدًا

کیدیشی چه نفع راکړی موږ ته یا به یې او نیسو دځوی په ځای باندے

وَّهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ ۝٩ وَاَصۡبَحَ فُؤَادُ

او دوی نه پوهیدل۔ او صبا له شو زړهٔ دَ

اُمِّ مُوۡسٰى فٰرِغًا ؕ اِنۡ كَادَتۡ لَتُبۡدِیۡ

مورد موسیٰ اوزګار د هرڅه نه رسوا د فکر دیې له) یقینًا نزدے وه چه حال یې د هغه

بِهٖ لَوۡلَاۤ اَنۡ رَّبَطۡنَا عَلٰى قَلۡبِهَا

ښکاره کړیوے که چرے تړون نه وے راوستلے موږ په زړه د هغې باندے

لِتَكُوۡنَ مِنَ الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ۝١٠ وَقَالَتۡ

د پاره د دے چه شی د ایمان والو نه۔ او اوئیل دے

سو:۔ دا نعمت دَ الله تعالیٰ دے دَ مصیبت نه نجات او حفاظت دَ موسیٰ علیه السلام یعنی الله تعالیٰ دَ موسیٰ علیه السلام حفاظت اوکړو په ذریعه دَ ښځے دَ فرعون سره، او دغه ښځے اُمید دَ نفع کړے وُو نو الله تعالیٰ هغې لره هدایت نصیب کړو په سبب دَ موسیٰ علیه السّلام سره او دَ دے ښځے ذکر په سورۃ تحریم سلا کښ شته دے۔

اَوۡ نَتَّخِذَهٗ وَلَـدًا، اشاره ده چه دَ دے ښځے ولد نه وُو لیکن دَ دے وجے نه چه فرعون کښ مردانیت نه وُو نو ځکه هغه چپ پاتے شو۔

قُرَّتُ عَيۡنٍ، هغه اولاد ته وئیلے شی چه دَ هغوی په ښائسته عمل او اخلاقو باندے خوشحالی حاصلیږی لکه په سورۃ فرقان سملا کښ۔

وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُوۡنَ، دا کلام مستقل رد دے په فرعونیانو باندے چه دوی موسیٰ علیه السلام دغه وخت نه پیژندلو، یا دا کلام دَ ښځے دے یعنی موږ به دے په پټه طریقه دَ ځان دَ پاره ولد اوګرځوو او نورو خلقو ته به معلومه نه وی هغوی به خیال کوی چه دے واقعی دَ دوی ولد دے۔

سلا:۔ په دے آیت کښ ذکر دَ مصیبت دے په مور دَ موسیٰ علیه السلام باندے لیکن سرهٔ دَ نعمت نه په طریقه دَ کرامت دَ هغې، ځکه ربط القلب دَ دا سے

لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ
خور دَ هغهٔ ته لاړه شه ورپسې نو کتل هغې دهٔ ته دَ
جُنُبٍ وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَحَرَّمْنَا
لرې نه او دوی نه پوهیدل. او منع کړې وُو مونږ
عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ فَقَالَتْ
په دهٔ باندې پئ ورکوونکې مخکښ دَ دینه نو اُوئیل رخور دَ دهٔ)
هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ
آیا اوخایم تاسو ته یو کور والا
يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ﴿۱۲﴾
چه پالنه به کوی دَ دهٔ ستاسو فائدې له دَپاره اودوی به دَ دهٔ خیرخواه وی۔

مصیبت په وخت دَ الله تعالیٰ دَطرف نه کرامت او نعمت دے۔ او دا سے ربط القلب په اصحاب کهف سلاکښ وؤ۔

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ، مراد دَ دے هغه څوک دے چه په وخت دَ مصیبت او ابتلاء کښ هم په ایمان باندے پوخ وی او دَ الله تعالیٰ په وعدو باندے یقین لری۔

سلا:۔ هر کله چه مور دَ موسیٰ علیه السلام ته معلومه شوه چه موسیٰ علیه السلام دَ فرعون کور ته تلے دے لیکن زړه دَ دے مضبوط وؤ او نور حال معلومولو دَ پاره ئے خور دَ موسیٰ علیه السلام دَ فرعون کور ته اولیږله۔ هغه هم هوښیاره وه ځکه چه موسیٰ علیه السلام ته نژدے نه راتلله دَپاره دَ دے چه څوک شک اونکړی چه دا دَ دهٔ خور ده۔ نو دَ دے وجے دَ لرے نه ئے کتل۔

وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ، دوی نه پوهیدل چه دا دَ دهٔ خور ده دَ ده حال معلوموی۔

سلا:۔ دا حُسنِ تدبیر دَ الله تعالیٰ دے دَ پاره دَ واپس کولو دَ موسیٰ علیه السلام خپلے مور ته۔

حَرَّمْنَا، دا تحریم لغوی دے په معنیٰ دَ منع سره ځکه چه پس له

فَرَدَدْنٰهُ اِلٰٓى اُمِّهٖ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا

نو واپس کړو موږ دغه لره مور د دغه نه د پاره د دے چه یخے شي سترګے د دے

وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

او نه خفه کیږي او دے د پاره چه یقین اوکړي چه یقیناً وعده د الله تعالیٰ

حَقٌّ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾

رشتیا ده او لیکن ډیر خلق نه پوهیږي۔

وَلَمَّا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَاسْتَوٰٓى

او هر کله چه اورسیدو خوانۍ خپلے ته او برابر شو

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ؕ وَكَذٰلِكَ

ورکړو موږ دغه ته فرق د حق او باطل او پوهه د دین ، او دغسے

عمر کښ تحریم شرعي ممکن نه دے ۔
وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ، وئیلے شویدي چه فرعونیانو پدے باندے اعتراض اوکړو چه د دے نه معلومه شوه چه ته د دے . یعني مور پیژنے ، نو دے ورته جواب کښ اُوئیل چه لهٗ ضمیر اهل بیت ته راجع نه دے په دلیل د لکم سره ۔ بلکه فرعون ته راجع دے نو هغوی چپ شول۔
۱۳ :- دا نعمت د الله تعالیٰ دے روستو د صبر کولو نه په مصیبت باندے ۔
اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ ، د دے نه مراد هغه وعده ده چه په ۷ کښ ذکر شوے ده ۔
لَا يَعْلَمُوْنَ ، یعني نه پوهیږي په ښۀ عاقبت د صبر په مصیبت باندے نو انتظار د نعمت نه کوي او بے صبري کوي۔
فائده :- مفسرینو لیکلي دي چه فرعون د مور د موسیٰ علیه السلام د پاره یو دینار (اشرفۍ) د ورځے مقرر کړلو او دا هغے لره د مال فۍ په صفت سره جائز وۀ۔

نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ⑭ وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ

بدله ورکوؤ مونږ خائسته عمل کوؤنکو ته ۔ او داخل شو دے ښار ته

عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا

په وخت د غفلت د اوسیدونکو د هغے کښ

فَوَجَدَ فِيْهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلٰنِ

نو اوموندلو دهٔ په هغے کښ دوه سړی جنګ ئے کوؤ

هٰذَا مِنْ شِيْعَتِهٖ وَهٰذَا مِنْ

دا یو د قبیلے د موسیٰ علیه السلام نه وؤ او دا بل د (ړلے)

عَدُوِّهٖ ۚ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِىْ مِنْ

د دشمن د دهٔ نه وؤ نو مدد اوغوښتلو د دهٔ نه هغه سړی چه د

شِيْعَتِهٖ عَلَى الَّذِىْ مِنْ عَدُوِّهٖ ۙ

قبیلے د دهٔ نه وؤ په مقابله د هغه سړی کښ چه د دشمن د دهٔ نه وؤ

۱۴ خلاصه :- د دے آیت نه دویم مقام دے تر ۲۲ پورے په دے کښ مصائب او احوال د ځوانئ د موسیٰ علیه السلام دی یعنی مصیبت د قتل د قبطی ۔ تضرع الله تعالیٰ ته تَعَبُّدًا ، او اتفاق د فرعونیانو په قتل د موسیٰ علیه السلام او هجرت مدین ته ۔

تفسیر: په دے آیت ۱۴ کښ انعام په موسیٰ علیه السلام قَبْلَ النُّبُوَّةِ ذکر کړے

اَشُدَّهٗ ، جمع د دے وجے نه ذکر کړله چه په ځوانئ کښ ټولو قوتونو نه بدلیدل یا خه شی ۔

حُكْمًا ، پوهه په احکامو دنیویه کښ ۔

عِلْمًا ، پوهه د احکام اخرویه ۔

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ، تشبیه د احوالو د مور د موسیٰ علیه السلام سره ده ، څرنګ چه مور د هغهٔ عمل اوکړو په امر د الله تعالیٰ او په مصیبت کښ ئے صبر اوکړو نو بیا خوشحاله کړے شوه دغسے هر محسن لره بدله

فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى فَقَضٰى عَلَيْهِ ۖ قَالَ

نو په موکه او وهوده لره موسٰی نوختم یې کړه ژوند ده هغه أووئیل موسٰی

هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۖ اِنَّهٗ

دا د عمل د شیطان نه دے ، یقینًا دے

عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ⑮ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ

دشمن گمراه کوونکے ښکاره دے - أووئیل هغه اے ربه زما یقینًا ما

ملاویږی۔ یا تشبیه د حال د موسٰی علیه السلام چه چالره الله تعالٰی په ورو کوالی کښ په طریقه د خرق عادت اوساتی نو هغه ته الله تعالٰی د دین پوهه او ذمه واری ورکوی نو اشاره شوه حال د خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم ته۔

۱۵۔ هر کله چه موسٰی علیه السلام د دین د فرعون نه نفرت کوؤ نو د هغوی سره یې تعلق نه لرلو بلکه د هغوی نه جدا په گرځیدلو د دے وجے نه ښار ته د غرمے په وخت کښ یو ضرورت د پاره داخل شو په پڼ غه وخت عام خلق اوده وو۔ او لفظ د غالٰی دلیل دے چه د غفلت وخت د ده قصد وو۔

فَاسْتَغَاثَهٗ ، وئیلے شوبړی چه قبطی (چه د قوم د فرعون نه وو) په اسرائیلی باندے په ظلم سره گیرے د خشاک د فرعون مطبخ ته اوړل غوښتل او هغه طاقت نه لرلو۔

فَوَكَزَهٗ مُوْسٰى ، امداد کول د مظلوم په ټولو دینونو کښ ضروری دے نو موسٰی علیه السلام د دغه ظالم د دفع کولو د پاره هغه په سینه کښ په موکه باندے او وهلو اراده د قتل د هغه یې نه وه کړے۔ لیکن هغه اسرائیلی نه په آسانه طریقه نه جدا کیدلو بغیر د موکے وهلو نه۔

فَقَضٰى عَلَيْهِ ، د هغه کار یې پوره کړو دا په عرف کښ کنایه ده د مرگ نه یا ضمیر الله تعالٰی ته راجع دے معنٰی دا چه فیصله اوکړه الله تعالٰی په هغه باندے د مرگ۔

هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ، بعضو خلقو دلیل نیولے دے چه دا گناه وو ځکه

ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ ۭ

ظلم کړیدے په ځان خپل بانلدے نو بخنه اوکړے ماته نو بخنه ئے اوکړه هغهٔ ته،

إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ⑯ قَالَ

یقینًا الله تعالی ـ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے ـ اُو وئیل دهٔ

چه نسبت ئے شیطان ته کړیدے ـ

اول جواب دا دے چه نسبت شیطان ته مستلزم دَ گناه نه دے لکه چه فتیٰ دَ موسیٰ علیه السلام نسیان دَ مهی شیطان ته نسبت کړیدے ـ لیکن هر کله چه دَ داسے کار په نتیجه باندے رچه تکلیف دے) شیطان خوشحالیږی دَ دے وجے نه هغهٔ ته نسبت کیږی ـ

دوئیم جواب دا دے چه هٰذَا اشاره ده دغه مقتول ته او عَمَلِ لښکر ته وئیلے کیږی ـ

دریم جواب دا چه هر کله چه پدے کار کښ اذن دَ الله تعالیٰ دَ طرفه نه وو ځکه چه بغیر دَ موکے وهلو ته دَ هغهٔ دفع کول هم ممکن وو نو خلاف اولیٰ شو نو موسیٰ علیه السلام دَ خوفِ الٰهی دَ وجے نه شیطان ته نسبت اوکړو په منزله دَ گناه ئے اوګڼړلو او دا دَ کاملو نیکانو عادت دے ـ

سلا: روستو دَ پښیمانه کیدلو نه تضرع ئے الله تعالیٰ ته اوکړله دَ بندگئ دَ اظهار په طریقے سره ـ

بعضے خلقو دلیل نیولے دے چه ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي دلالت کوی چه دا عمل دَ موسیٰ علیه السلام گناه وو ، ،

جواب دا دے چه په قاعده دَ حسنات الابرار سیئات المقربین سره دغه عمل چه خلاف اولیٰ وو گناه نه وو لیکن موسیٰ علیه السلام دَ هغے نه تعبیر په ظلم سره اوکړو او دَ هغے ئے مغفرت طلب کړو ـ لکه چه نبی صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق رضی الله عنهٗ داسے دُعا خودلے وه اللهم انی ظلمت نفسی ظلمًا کثیرًا فاغفرلی مغفرة رتر آخر پورے) لفظ دَ ظلم او طلب دَ مغفرت مستلزم دَ گناه نه دے بلکه داسے الفاظ تعبُّدًا استعمالیږی ـ

فغفرله په طریقه دَ الهام رچه قبل دَ نبوت نه پیغمبرانو ته معلومیږی) و رته

رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَیَّ فَلَنْ اَکُوْنَ

اے ربه زما په وجه دَ انعام کولو ستا په ما باندے پس هیچرے به نشم زهٔ

ظَهِیْرًا لِّلْمُجْرِمِیْنَ ﴿۱۷﴾ فَاَصْبَحَ فِی

مددګار دَ مجرمانو - نو صبا کړو موسیٰ علیه السلام په

الْمَدِیْنَةِ خَآئِفًا یَّتَرَقَّبُ فَاِذَا الَّذِی

ښار کښ ویره کوونکے انتظار ئے کوؤ نو ناګهه هغه کس

اسْتَنْصَرَهٗ بِالْاَمْسِ یَسْتَصْرِخُهٗ ؕ قَالَ

چه مدد ئے دَ دهٔ نه غوښتلے وؤ پرون ورځ چغے ئے وهلے دهٔ ته، اُوئیل

معلومه شوه اوکه چرے دَ قتل ګناه مراد ده نو هغه بغیر دَ معافئ کولو دَ ورثه دَ مقتول او په غیر دَ دیت او قصاص نه نهٔ بخلے کیږی.

ف۱:- په دے کښ دوه قولونه دی. اول قول دا دے چه دا جمله خبریه ده او وعده ده په آئنده زمانه کښ. په دے کښ بیا دوه توجیه دی.

اوله توجیه، چه دا اسرائیلی منْ وجه مجرم وؤ دَ دهٔ امداد ما اوکړو لیکن آئنده دَپاره دَ داسے مجرمانو امداد نه کوم.

دویمه توجیه دا ده چه اوس خو دَ دے مظلوم په امداد کښ زما نه قتل اوکړیشو خو تا راباندے انعام دَ مغفرت اوکړو نو دا رنګ آئنده دَپاره به هم دَ هیڅ مجرم امداد نه کوؤم بلکه دَ مظلوم مدد به کوؤم.

دویم قول دا دے چه دا دُعا ده او انعام دَ مغفرت دے او نور نعمتونه ئے وسیله اوګرځوله چه دَ دے په وسیله سره ما آئنده دَپاره دَ مجرمانو دَ امداد نه بچ اوساتے. دَ عطاء رضی الله عنه نه روایت دے چه حلال نه دی چه څوک دَ ظالم سره مدد کوی او نه دے دَ هغهٔ دَپاره کاتب (منشی) وی او نه دے دَ هغهٔ ملګرتیا کوی. تفسیر قرطبی کښ تفصیل نقل کړیدے.

لَهٗ مُوْسٰٓى اِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٨﴾

دۀ ته موسٰی علیه السلام یقینًا ته خامخا سرکش ښکاره یې -

فَلَمَّآ اَنْ اَرَادَ اَنْ يَّبْطِشَ بِالَّذِىْ

پس هرکله چه قصد اوکړو چه راونیسي هغه کس

هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ۙ قَالَ يٰمُوْسٰٓى

چه هغه دشمن د دواړو دے اُوئیل هغه اے موسٰی

اَتُرِيْدُ اَنْ تَقْتُلَنِىْ كَمَا قَتَلْتَ

آیا ته غواړے چه ما قتل کړے لکه چه تا قتل کړے

نَفْسًا بِالْاَمْسِ ۖ اِنْ تُرِيْدُ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ

یو تن پرون ورځ نه غواړے ته مګر چه شے ته

جَبَّارًا فِى الْاَرْضِ وَمَا تُرِيْدُ اَنْ تَكُوْنَ

زورآوري کوونکے په دے ملک کښ او نه غواړے دا چه شے ته

سا۱۸ ۔ دا سے خوف د صالحینو او انبیاء د شان نه څه یعیده نه دہ -

یَتَرَقَّبُ ، انتظار یې کوو چه اوس به زۀ د فرعون دربار کښ طلب کړے شم

یا دا معنٰی چه حالات یې معلوموو -

یَسْتَصْرِخُهٗ ، په دے لفظ کښ اشاره ده چه د دے سړی فریاد د پرونی

سړی نه زیات وو ځکه چه هغه صرف د مدد د طلب د پاره آواز کړے وو

او تن دے سړی چغے اووهلے -

قَالَ لَهٗ مُوْسٰی ، راجح دا ده چه ضمیر د لهٗ راجع دے اسرائیلی ته -

لَغَوِيٌّ مُّبِيْنٌ ، د دے وجے نه چه ته بے طاقته یې او بیا هم هره ورځ

د زوراورو سره جنګونه کوے او د هغوی امر نه منے یا د دے وجے نه

چه ستا په وجه پرون زما دلاسه سړے قتل شو -

دویمه توجیه دا ده چه ضمیر قبطی ظالم ته راجع دے -

مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ ⑲ وَجَآءَ رَجُلٌ

دَ اصلاح کوونکو نه ۔ او راغے یو ناربنه

مِّنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ يَسْعٰى ز قَالَ

دَ لرے طرف دَ ښار نه منډے وهلے اُوئيل ئے

يٰمُوْسٰٓى اِنَّ الْمَلَاَ يَاْتَمِرُوْنَ

اے موسیٰ یقینًا مشران دَ مِصر جرګه کوی ستا په باره کښ

بِكَ لِيَقْتُلُوْكَ فَاخْرُجْ اِنِّيْ

چه قتل کړی تا لره نو اوځه یقینًا زهٔ

لَكَ مِنَ النّٰصِحِيْنَ ⑳ فَخَرَجَ

تا لره دَ خیر خواهو نه یم نو او وتلو

سوال:۔ په یکبن دوه احتمالونه دی۔ اول احتمال دا چه بالذی عدو لهما نه مراد اسرائیلی دے چه پرونی قبطی او دَ نن قبطی دواړو دشمن دے نو دے اسرائیلی ګمان اوکړو چه نن مالره قتل کوی نو دَ پرونی حال ئے ښکاره کړو۔

کَمَا قَتَلْتَ، دَ دهٔ دَ طرف نه قول یقینی دے۔

دویم احتمال دا دے چه مراد دَ دے نه قبطی دے چه دشمن دے دَ موسیٰ علیه السلام او دَ دے اسرائیلی، او هغه په طریقه دَ ګمان سره اوبل چه پرونے سړے په هم تا قتل کړے وی او موسیٰ په دے عمل کښ احتیاط اوکړو چه دَ ډګرځ په ځائے نن بطش وکړو ځکه چه حدیث صحیح کښ راغلی چه مؤمن دَ یو سوری نه دوه کرته نه چیچلے کیږی۔

جَبَّارًا، هغه خوک دے چه دَ ځان دَ پاسه دَ هیچا قانون نه منی۔

مِنَ الْمُصْلِحِيْنَ، اول صفت ثبوتی او دویم صفت سلبی ذکر کړے دے دَ پاره دَ ډیرے مبالغے کولو۔

سوال:۔ هر کله چه دَ دغه قبطی یقین راغے چه پرون قتل موسیٰ علیه السلام

مِنۡهَا خَآئِفًا يَّتَرَقَّبُ ۫ قَالَ رَبِّ

دَ هغے نه ويره كوونكے | انتظار يې كوو | اُو ئيل ده اے ربه زما

نَجِّنِیۡ مِنَ الۡقَوۡمِ الظّٰلِمِیۡنَ ﴿۲۱﴾

نجات كړے ما لره دَ قوم دَ ظالمانو نه۔

ع ۲ ۸

كړے دے نو خبر يې فرعون ته اورسوؤ نو دَ هغه اركان شورٰى دَ موسٰى عليه السلام دَ قتل په باره كښ اتفاق فيصله اوكړه هغه خبره مشهوره شوه نو رجل مؤمن رچه نوم يې حزقيل يا شمعون يا شمعان وؤ۔) موسٰى عليه السلام ته په تادئ سره خبر را اوړو او هغهٔ ته يې دَ خير مشوره وركړه۔ مسلمان باندے دَ بل مسلمان حفاظت دَ مال او دَ دم واجب دے او ديته نصيحت وئيلے كيږي۔ او دغے په سورة يٰس سلا كښ دي او وجه دَ فرق هلته بيا نيږي۔

سلا۔ عمل كول په خبر دَ يو شخص عادل باندے جائز دي او هر كله چه ورسره قرينے دَ صدق موجود وي بيا خو په هغے باندے عمل كول ضروري وي۔ دلته هم موسٰى عليه السلام ته معلومه شوه چه دا خبر خور شو او دا خلق په ما وژني او خبر دَ دغه شخص صادق هم ورسره ملګرے شو نو موسٰى عليه السلام تَه دے وجے نه في الحال عمل اوكړو او خوف يې ځكه كوؤ چه خبر رشتني وؤ۔ او دَ عمل شروع كولو او سفر كولو سره دُعا هم پكار ده۔ نو هغه دُعا اوغوختله رب نجني من القوم الظلمين۔ او دا هجرت دَ موسٰى عليه السلام دَ ظالم قوم نه دَ پاره دَ حفاظت دَ ځان دے او دا هم سنت دَ انبياء عليهم السلام دے۔

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ

او هر کله چه مخ یې کړو طرف د مدین ته اوئیل ده

عَسٰى رَبِّيْٓ اَنْ يَّهْدِيَنِيْ سَوَآءَ

امید دے چه رب زما به روان کړی ما لره په برابر

السَّبِيْلِ ﴿٢٢﴾ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ

لار (د مدین) ۔ او هر کله چه ورسیدو اوبو (کوهی) د مدین ته

وَجَدَ عَلَيْهِ اُمَّةً مِّنَ النَّاسِ

او مُندله ده د هغے په خوا کښ یوه ډله د خلقو نه

۲۲: خلاصه :۔ د دے آیت نه دریم مقام دے تر ۲۹ پورے په دے کښ تکالیف په موسیٰ علیه السلام باندے په سفر د مدین کښ بغیر د توښے نه او اوږدے کیدل د هغه او سره د دینه د کمزورو خلقو سره امداد کول، بیا خپل ځان مزدور کول، دا ټول ذکر دی۔ او ورسره نعمت هم ذکر دے نکاح د یو رجلِ صالح د لور سره او سبب د حلال رزق موندل دی۔

تفسیر:۔ په دے آیت ۲۲ کښ د سفر د موسیٰ علیه السلام ابتداء ده او اسباب د سفر ورسره نشته او لار د مدین ورته هم نه ده معلومه او مسافت هم اته ورځے وو لیکن صرف په توکل د الله تعالیٰ باندے روان شویدے او دا اعلیٰ درجه توکل دے ۔ موسیٰ علیه السلام ته معلومه وه چه مدین د فرعون د تسلط نه بهر دے ۔ بل دا چه مدین د ابراهیم علیه السلام د اولاد نه وو د هغه په نوم دا ښار جوړ شوے وو. د هغه اولاد پکښ اوسیدل نو موسیٰ علیه السلام د نسبي اشتراک او د نبوت د کورنۍ په وجه سره د دے ښار سفر غوره کړو۔

اَنْ يَّهْدِيَنِيْ ، مخکښ آیت کښ دُعا د نجات وه او په دیکښ دُعا د مقصد حاصلولو ده ۔ او عسٰی وئیلے دے د وجے د ډیر توکل کولو نه په الله تعالیٰ باندے۔

يَسْقُوْنَ ۬ وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ

اوبه کول ئې څاروی او او موندلې پيدا ئې دَهغوی بېرته دوه زنانه

تَذُوْدٰنِ ۚ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ؕ قَالَتَا

چه منع کول ئې څاروی دَاوبوته، اُوئيل ده څه کار دے ستاسو اُوئيل دوی

لَا نَسْقِيْ حَتّٰى يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ٚ وَاَبُوْنَا

اوبه کول نه کوو مونږ ترهغې پورې چه واپس لاړشی شپونکی او پلار زمونږ

شَيْخٌ كَبِيْرٌ ﴿۲۳﴾ فَسَقٰى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلّٰٓى

بوډا زوړ دے۔ نو اوبه ئې کړل دوی لره (څاروی) بيا په ډډه شو

۲۳۔ وَرَدَ، ورود په معنیٰ دَ وصول راځی او کله په معنیٰ دَدخول راځی دلته اوله معنیٰ مراد ده۔

مَآءَ مَدْيَنَ، دَ مدين نه يو کوهی دَ اوبو وو چه په هغې باندے لويه بوقه وه چه هغه په لس کسانو راويستلے شوه او دَ هغې نه به ئې خپل څاروی اوبه کول۔

وَوَجَدَ مِنْ دُوْنِهِمُ امْرَاَتَيْنِ تَذُوْدَانِ، يعنی موسیٰ عليه السلام تعجب اوکړو چه نارينه خپل څاروی اوبه کوی او واپس ځی او زنانه په انتظار کښ حصارے دی بلکه تکليف هم ورکوی چه څاروی اوبوته زور کوی او دوی ئې منع کوی۔ او دا حال دَ دغه خلقو په بے غيرتۍ يا بے مروتۍ باندے دليل وو او دا ظلم وو په زنانو باندے، دَ دے وجے نه موسیٰ عليه السلام دَ هغوی نه په مَا خَطْبُكُمَا سره تپوس اوکړو ځکه چه په دے لفظ سره تپوس کول خاص دی په ډير مصيبت زده يا په لوے کار کوونکو پورے۔ او په دے کښ مقصد دَ هغه دا وو چه دَ دے مظلومانو مدد اوکړی۔

دَ دوی دَ جواب خلاصه دا ده چه دا خلق مونږ ته اوبه نه راکوی خو چه دَ دوی نه روستو کيږے او په پاتے شی په هغے باندے مونږ څاروی اوبه کوو او دَ دے قوم دَ مخالفت دَ وجے نه څوک مونږ سره مزدوری يا امداد نه

اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَآ اَنْزَلْتَ

سورى ته نو أوئيل يې اے ربه زما يقينًا زۀ هغے څه ته چه تۀ يې رالیږې

اِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿۲۴﴾ فَجَآءَتْهُ

ماته دَ خوراک نه محتاج يم۔ پس راغله دۀ ته

اِحْدٰىهُمَا تَمْشِىْ عَلَى اسْتِحْيَآءٍ

يوه زنانه دَ هغه دواړو نه پياده راتلله په ډيره حياء باندے

قَالَتْ اِنَّ اَبِىْ يَدْعُوْكَ لِيَجْزِيَكَ

أوئيل هغے يقينًا زما پلار رابلى تا لره دے د پاره چه بدله درکړى تا ته

اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ؕ فَلَمَّا جَآءَهٗ

بدله دَ هغے چه تا اوبه کول کړيدى زمونږ د پاره، نو هرکله چه راغے هغۀ ته

کوى او پلار زمونږ بوډا کمزورے دے نو مونږ دا خاروى په مجبورئ باندے صحراء ته راولو۔

وَ اَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ، پدے سره يې دَ اعتراض جواب اوکړو که څوک اوائي چه پيغمبر په خپلو لونړو باندے ولے خاروى سره وى۔

۲۴۔ هرکله چه دَ مظلومانو سره امداد کول دَ موسىٰ عليه السلام عادت دے نو دَ دوى سره يې هم امداد اوکړو۔ په موافق دَ روايت دَ مفسرينو سره په هغه کوهى باندے بوقه وه دَ لس کسانو دَ طاقت مناسب نو موسىٰ عليه السلام هغۀ په يواځے راويستله او دَ دے زنانو خاروى يې اوبه کړل او دوى ته يې دَ خپلے لوګے هيڅ ذکر اونکړو ځکه چه کاملان خلق خپل حاجتونه ظاهرى هم مخلوق ته نه ښکاره کوى۔

فَقِيْرٌ، مراد دا دے چه زۀ اوګے يم او اے ربه ستا در ته محتاج يم او دا هم تعريض دے په دُعا سره صراحةً سوال هم نه دے او دا ادب دے په دعاګانو دَ انبياؤ کښ۔

وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ قَالَ لَا تَخَفْ

او بیان ئې کړو په هغه حالت پوره اُوئیل هغهٔ ماه ویریږه

نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾

نجات دې اوموندلو دَ قوم ظالمانو نه -

س۲۵:- هرکله چه دا زنانه دَعام عادت نه مخکښې کورته واپس شوے نو پلار ترینه تپوس اوکړو نو دوی دغه حال تفصیلاً ذکرکړو نو شعیب علیه السلام رچه دَ دوی پلار وو) په فراست سره معلومه کړه چه دا شخص دَ مدین اوسیدونکو نه نهٔ دے، او دَ کمزورو سره مددکوونکے شخص دے دَدے وجے نه یوه لورئې ورپسے دَپاره دَ دعوت ورکولو رااولیږله۔

اِحْدٰىهُمَا، هرکله چه خاروی ډیر وو او دَ کلی نه لرے بوتلل پکار وی نو دَ هغے دَپاره دواړه زنانه ورتللے او هرکله چه موسٰی علیه السلام ته دعوت ورکول آسان او نزدے وو نو یوه زنانه ورپسے ئې اولیږله۔ معلومه شوه چه نیکان خلق دَ زنانو نه بغیر دَ سخت ضرورت نه کار نه اخلی او نه ئې بلا ضرورت بهر پریږدی۔

عَلَى اسْتِحْيَآءٍ، یعنی خپل بدن ئې پټ ساتلے دے او په رفتارکښې ئې ناز اوکرشمے نه کولے لکه چه دَ بے حیا زنانو عادت دے۔

عَلٰی، لفظ دَ تمکن دَپاره دے یعنی په حیا باندے کلکه وه۔

لِيَجْزِيَكَ اَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا، دا جمله دَ دعوت دَ قبلولو دَ تاکید دَپاره ده لیکن موسٰی علیه السلام پدے اراده سره دعوت نه دے قبول کړے چه اجرت واخلی ځکه چه مفسر قرطبی لیکلی دی چه شعیب علیه السلام هغه ته طعام پیش کړو نو هغه انکار اوکړو اُوئیل ئې موږ داسے کورنئ نه یو چه خپل دین په ډکه زمکه سرو زرو سره هم نه خرڅوو۔ هغه ورته اُوئیل دا اجرت دَ سقی نه دے بلکه عادت زموږه میلمستیا ورکول دی نو هله موسٰی علیه السلام خوراک اوکړو

الظّٰلِمِيْنَ، دَ دے نه مراد فرعونیان دی چه دَ هغوی حکومت په مدین کښې نه وو۔

قَالَتْ إِحْدٰىهُمَا يٰٓأَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ ز
اوئیل یوے زنانه دَ هغے دواړو نه اے پلاره زما په مزدورئ سره اونیسه دهٔ لره
إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ
یقینًا غوره دَ هغه چانه چه ته ئے په مزدورئ سره نیسی دا طاقت ور
الْأَمِينُ ﴿۲۶﴾ قَالَ إِنِّىٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ
امانتدار دے۔ اُوئیل هغهٔ یقینًا زهٔ غواړم چه په نکاح سره درکړم
إِحْدَى ابْنَتَىَّ هٰتَيْنِ عَلٰٓى
تاته یوه دَ دے دوه لوڼړو نه . په دے شرط
أَن تَأْجُرَنِى ثَمٰنِىَ حِجَجٍ ۖ فَإِنْ أَتْمَمْتَ
چه اخلے په زما نه بدله دَ کار کولو اته کاله نو که تا پوره کړل
عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ ۖ وَمَآ أُرِيدُ
لس کاله نو ستا دَ طرفته به وی (احسان) او نه غواړم

۲۶:- دا دلیل دے چه دوی ترا وسه پورے مناسب مزدور نه وؤ موندلے او دلیل دے چه عقدِ اجاره په ټولو دینونو کښ جائز عقد دے۔

الْقَوِيُّ الْأَمِينُ، اشاره ده چه مزدور کښ دوه صفتونه پکار دی اول طاقت لرل دَ هغه کار، دویم امانت داری۔ دے زنانو په موسیٰ علیه السلام کښ دا دواړه صفتونه لیدلے وؤ قوت دا وؤ چه دَ لس کسانو دَ طاقت بوقه دهٔ یواځے راویستلے وه۔ امانت دا وؤ چه موسیٰ علیه السلام هغه زنانه ته وئیلے وؤ رکومه چه دَ دعوت دَپاره راغلے وه او دواړه واپس کورته راتلل) چه زما نه روستو راځه هسے نه چه په رفتار کښ ستا جامه دَ پښو نه اوچته شی او زما نظر پرے اولګی۔

أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ ۚ سَتَجِدُنِيٓ إِنْ شَآءَ

چه دیر کړاؤ کیدم په تا باندے ، زر ده او به مومے ما لره که چرے اوغواړی

اللَّهُ مِنَ الصّٰلِحِينَ ﴿۲۷﴾ قَالَ ذٰلِكَ

الله تعالیٰ د نیکانو نه - اووئیل موسیٰ علیه السلام دا فیصله ده

۲۷:- دا دلیل دے چه صالحان خلق پخپله لونړه خپلے د نکاح دپاره پیش کوی هر کله چه صالح شخص اوینی -

أُرِيْدُ ، دا ئے د دے وجے نه فرمائیلی دی چه دا عرض د نکاح دے عقد د نکاح نه دے ځکه چه عقد د نکاح کښں ایجاب قبول په صیغه د ماضی سره ضروری وی بل دا چه په عقد کښں تعیین د یو ښځے ضروری دے او دلته ئے تعیین نه دے کړے -

عَلٰٓى أَنْ تَأْجُرَنِيْ ، عَلٰى د عوض دپاره دے یا د شرط دپاره دے که د عوض دپاره وی نو په دے باندے اعتراض دا دے چه مزدوری د موسیٰ علیه السلام د شعیب علیه السلام سره څه رنګ مهر کیدے شی دپاره د لور د هغے ځکه چه د مهر حقدار پلار نه دے بلکه منکوحه ده ، جواب دا دے چه دا د هغوی په دین کښں جائز ده لیکن دا قول ثابت نه دے - دویم جواب دا دے چه دا مطلب هله کیدیشی چه تَأْجُرَنِيْ په معنیٰ د عوض راکولو وی لیکن دا په معنیٰ د اخستلو د اجرت دے دویمه توجیه دا ده چه عَلٰى دپاره د شرط دے او دا شرط د نکاح سره مناسب او موافق دے اوکوم شرط چه داسے وی نو د نکاح سره په شرط لګولو کښں نقصان او فساد نه راولی - د دے شرط مطلب دا دے چه ته به زما سره کار کوے خو د هغے په زما نه اجرت اخلے په عوض د کار کولو او د دے اجرت نه به ستا د ښځے مهر او نفقه پوره کیږی -

تَأْجُرَنِيْ ، معنیٰ دا ده چه زما نه به اجرت اخلے په عوض د کار کولو زما سره - او اجارے دپاره مدت مقرر کول ضروری دی نو دلته هم اته کاله مدت ضروریه ده او لس کاله د موسیٰ علیه السلام په رضا باندے موقوف دی -

بَيۡنِيۡ وَبَيۡنَكَ ؕ اَيَّمَا الۡاَجَلَيۡنِ

په مينځ زما او مينځ ستاكښې، هريو د دواړو نيټو نه

قَضَيۡتُ فَلَا عُدۡوَانَ عَلَىَّ ؕ

چه پوره كړوما نو لشته زياتے كول په ما باندے -

وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوۡلُ وَكِيۡلٌ ﴿۲۸﴾

او الله تعالىٰ په هغه خبرو چه موږ وايو ذمه دار دے.

فَلَمَّا قَضٰى مُوۡسَى الۡاَجَلَ وَسَارَ

پس هركله چه پوره كړه موسىٰ نيټه او روان ئے كړه

بِاَهۡلِهٖۤ اٰنَسَ مِنۡ جَانِبِ الطُّوۡرِ

كورنئ خپله اوليدلو ده د طرف د طور نه

نَارًا ۚ قَالَ لِاَهۡلِهِ امۡكُثُوۡۤا اِنِّىۡۤ

اور لره اُوئيل هغهٔ كور والو ته حصار شئ يقينًا ما .

۲۸:- دا قبوليت د عقد دے د طرف د موسىٰ عليه السلام نه.
او اَيَّمَا الۡاَجَلَيۡنِ ،كښې اشاره ده چه عقد دے په اتو كلونو سره او لس پوره كول په خوښهٔ ياندے بناء دى.
فَلَا عُدۡوَانَ ، تجاوز كول په غير لازم څيز سره لازم كول يعنى دواړه حالتونو كښې به زمانه نوره زياتى مدت مزدورى كول نه غواړے.
وَاللّٰهُ عَلٰى مَا نَقُوۡلُ وَكِيۡلٌ ، قول د موسىٰ عليه السلام يا قول د شعيب عليه السلام دے او دے دواړو په شهادت او وكالت د الله تعالىٰ باندے اكتفاء كړيده او دا د كامل صالحانو مقام دے.

آنَسْتُ نَارًا لَّعَلِّيْٓ اٰتِيْكُمْ مِّنْهَا

لیدلے دے اور کیدیشي چه راوړم تاسو ته د هغې نه

بِخَبَرٍ اَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ

څۀ خبر د لارے یا سکروټه د اور نه

لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَلَمَّآ اَتٰهَا

دے د پاره چه تاوده شئ تاسو. پس هر کله چه راغی ورته

۲۹: خلاصه:- د دے آیت نه تر ۳۵ پورے څلورم مقام دے په دیکښ نبوت د موسیٰ علیه السلام، او دوه معجزات اولیږل فرعونیانو ته او قبولیت د دُعا د موسیٰ علیه السلام ذکر دی او دا د الله تعالیٰ د نعمتونو نه دی سره د ابتلاء نه.

تفسیر:- اَلْاَجَلَ، د ابن عباس رضی الله عنهما نه د بخاري روایت دے چه موسیٰ علیه السلام لس کاله تیر کړل ځکه چه رسول د الله تعالیٰ چه څه وائي نو هغه کوي.

وَسَارَ بِاَهْلِهٖٓ، د خاوند اختیار دے چه خپله کور والا بغیر د ګناه نه هر چرته بوځي نو هغه به ئې تابع وي.

جَذْوَةٍ، سکروټه د اور ده او هر کله چه د لرګي په سر کښ وي نو قبس ورته وئیلے کیږي.

لَعَلِّيْٓ، په سورة طٰهٰ او په دے سورت کښ ئې په لَعَلَّ سره ذکر کړیدے او دا حقیقت دے ځکه چه خبر یا اور راوړل یقیناً معلوم نه دی بلکه په طریقه د امید سره دی. او سورة النمل کښ سَاٰتِيْكُمْ ذکر کړے دے په طور د مضبوط اُمید سره ځکه چه سورة النمل کښ حکمتونه ذکر کول مقصد وو او حکمت په تاکید سره ذکر کول پکار دی. او دا رنګ په سین سره ذکر کولو کښ اشاره وه زر راوړلو ته.

نُوْدِیَ مِنْ شَاطِئِ الْوَادِ الْاَیْمَنِ

آواز ورکړی شو د غاړې د کندې ښی طرفته

فِی الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ

په زمکه برکتي کښې د اونې د طرفنه

اَنْ یّٰمُوْسٰۤی اِنِّیْۤ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ

چه اے موسیٰ یقینًا زهٔ الله یم رب

الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۰﴾ وَ اَنْ اَلْقِ عَصَاكَ ط

د عالمینو - او اوغورځوه همسا خپله ،

ف۳۰:۔ اَلْاَیْمَنِ صفت د شاطیٔ دے یعنی د وادیٔ ښے طرف په نسبت د یمین د موسیٰ علیه السلام سره او ښی طرف کښې خیر او برکت وو۔ مِنَ الشَّجَرَةِ ، دا بدل دے د شَاطِئِ نه او معنیٰ دا ده چه طرف د شجرے نه آواز راغے دا مراد نه دے چه د شجرے نه آواز راغے چه زهٔ الله یم لکه چه حلولیان وائی چه الله تعالیٰ په دغه اونه کښې حلول کړے وو نو هغې اُوئیل چه زهٔ الله یم ، (نعوذ بالله) او دوی وائی چه الله تعالیٰ هرکله چه اوغواړی نو هر قسم مخلوق کښې دننه حلول کوی او هغه مخلوق بیا دعوٰی د الوهیت کولے شی لیکن دا عقیده باطله ده او کفرِ صریح دے ځکه چه د دعوی الوهیت او ربوبیت د مخلوق د طرف نه دروازه کولاویږی - او سورة انبیاء ف۲۹ کښې دی - وَمَنْ یَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّیْۤ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِیْهِ جَهَنَّمَ -

یعنی که دا قول څوک قصدًا کوی او که بے اختیاره کوی دواړو ته شامل دے -

فائده :- موسیٰ علیه السلام ته الله تعالیٰ چه کلام واورولو نو د هغه یقین راغے چه د کلام تن اکوونکے الله تعالیٰ دے - او دا کلام د الله تعالیٰ دے او دا صریح دلیل دے چه اوریدلے شوے کلام د الله تعالیٰ وو۔

فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ

پس هر کله چه هغه اولیدله چه ژر ژر خوځیدله ګویا که دا نرے مار دے

وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ ؕ يٰمُوْسٰٓى

او ګرځیدو شاګوڼګے او شا ته یې نه کتل راوتیل موږ) موسٰی

اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ ۫ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ ﴿۳۱﴾

مخامخ شه او مه ویریږه ، یقینًا ته د امن والا نه یې ۔

اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ

ورننه باسه لاس خپل په ګریوان خپل کښ را اوځی به

بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ ؗ وَّاضْمُمْ

سپین بغیر د څه نقصان نه او جوخت کړه

اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ فَذٰنِكَ

ځان ته مټې خپلے د وجے د هیبت نه پس دا دوه یقینی

بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ

دلیلونه دی ستا له طرفه د رب ستا نه فرعون ته

ف۳ :۔ دا سے سورۃ النمل کښ تیر شویدی او دا اوله معجزه ده او هر کله چه په دے سورت کښ یې مکان د نداء په وضاحت سره بیان کړو نو اَقْبِلْ یې په دوجه زیات راوړو چه دغه مکان ته مخامخ شه ۔ او هر کله چه سورۃ النمل کښ حکمتونه بیانول مقصد وو نو د دے وجے نه یې لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ذکر کړو چه په هغے کښ حکمتونو ته اشاره ده ۔

وَمَلَإِيْهٖ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۳۲﴾

او مشرانو د قوم د هغهٔ نه، یقینًا دوی وو قوم نافرمان۔

قَالَ رَبِّ إِنِّىْ قَتَلْتُ مِنْهُمْ

اُوئیل هغه اے ربه زما یقینًا ما وژلے دے د دوی نه

نَفْسًا فَأَخَافُ أَنْ يَّقْتُلُوْنِ ﴿۳۳﴾

یو تن نو ویریږم چه دوی به ما لره قتل کړی۔

۳۲:۔ دا دویمه معجزه ده۔ هرکله چه په دے سورت کښ مقصد ابتدائی حالات ذکر کول دی نو په دے معجزه کښ اول حال داخلول دی چه په اسلک کښ مراد دے روستو بیا پیوست کول د لاس دی د جناح سره کوم چه په سورة طٰه ۲۲ کښ ذکر دی۔

وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ، د دے دوه مطلبه دی اول دا چه هرکله د رڼا د لاس نه دربانده هیبت راشی نو لاس واپس گریبان کښ داخل کړه نو رڼا به زائله شی نو دا تتمه شوه د دویمے معجزے۔

دویم مطلب دا دے چه هرکله په تا باندے د مار د وجے یا د فرعون د وجے یا د بلے وجے نه هیبت او ویره راځی نو د هغے د لرے کولو د پاره دا تدبیر کوه چه لاس له په سینه باندے په یو ځائے کیده نو هیبت به درنه زائله شی۔ او د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه روستو د موسٰی علیه السلام نه دا تدبیر هرچا د پاره فائده منده دے۔

بُرْهَانٰنِ، دا دلیل دے چه معجزات یقینی دلیلونه دی په توحید او رسالت باندے۔ او دا دلیل دے چه وَاضْمُمْ إِلَيْكَ مستقله معجزه (دریمه) نه ده۔

فٰسِقِيْنَ، فسق په اعتبار د عقیدے سره مراد دے۔

۳۳:۔ دا اوله دُعا ده د موسٰی علیه السلام یعنی زهٔ د هغوی مجرم یم په سبب د قتل کولو د قبطی سره۔ نو ته ما د هغوی نه بچ اوساتے۔

وَ اَخِيْ هٰرُوْنُ هُوَ اَفْصَحُ مِنِّيْ

او ورور زما هارون هغه ډير صفا دے زما نه

لِسَانًا فَاَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْاً يُّصَدِّقُنِيْٓ

په ژبه کښ پس اوليږه هغه زما سره امدادی چه تصديق کوی زما

اِنِّيْٓ اَخَافُ اَنْ يُّكَذِّبُوْنِ ﴿۳۴﴾ قَالَ

يقيناً زهٔ ويريږم چه دوی به ما ته دروغژن اووائی۔ اُووئيل الله تعالٰی

سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِاَخِيْكَ وَنَجْعَلُ

زر ده چه کلک به کړو مټے ستا په ورور ستا سره اودربه کړو

لَكُمَا سُلْطٰنًا فَلَا يَصِلُوْنَ اِلَيْكُمَا ۚ

تاسو دواړو لره رعب (غلبه) نو رسيدل به نشی کولے تاسو دواړو ته (لا رشئ)

بِاٰيٰتِنَآ ۚ اَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغٰلِبُوْنَ ﴿۳۵﴾

په معجزاتو زما سره، تاسو دواړه اوڅوک چه ستاسو تابعدار دی زور آور يئ۔

۳۴:- دا دويمه دُعا ده په باره دَ ورور کښ دَ هغے تفصيل سورة طٰهٰ او سورة الشعراء کښ تير شويدے۔

۳۵:- دا قبوليت دَ دواړو دُعاګانو دے په غير ترتيب سره يعنی دَ دويمے دُعا استجابت اول ذکر شو او دَ اولے دُعا قبوليت ئے پس له قول سره ذکر کړو

وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطٰنًا، اودربه کړو تاسو دواړو ته رُعب (دبدبه) يعنی تاسو له به داسے رعب درکړو چه فرعونيان به تاسو نه ويريږی تاسو ته به هيڅ ضرر نشی رسولے۔

بِاٰيٰتِنَآ، يعنی اذهبا مقدر دے، لا رشئ دواړه په معجزاتو سره۔

اَنْتُمَا وَمَنِ آه دا بشارت او وعده ده دَ طرف دَ الله تعالٰی نه دَ ياره دَ تسلی۔

فَلَمَّا جَآءَهُمْ مُّوسٰى بِاٰيٰتِنَا بَيِّنٰتٍ

پس هر کله چه راغے دوی ته موسیٰ علیه السلام په معجزاتو زمونږ ښکاره

قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى

اُوئیل دوی نه دے دا مګر جادو دے دځان نه جوړکړے شوے

وَّمَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِیْٓ اٰبَآئِنَا الْاَوَّلِیْنَ ﴿۳۶﴾

او نه دی آوریدلی مونږ دا په مشرانو زمونږ زړو کښ.

وَقَالَ مُوْسٰى رَبِّیْٓ اَعْلَمُ بِمَنْ جَآءَ

او اُوئیل موسیٰ علیه السلام رب زما ښهٔ پوهه دے په هغه چاچه راوړی

بِالْهُدٰى مِنْ عِنْدِهٖ وَمَنْ تَكُوْنُ لَهٗ

هدایت دَ طرف دَ هغهٔ نه او په هغه چاچه وی هغهٔ لره

عَاقِبَةُ الدَّارِ ۭ اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾

انجام غوره دَکور (روستنی)، یقیناً نه شی بچ کیدے ظالمان.

۳۶ :- خلاصه :- دَ دے آیت نه تر ۴۲ پورے پنځم مقام دے په یکښ امتحان دے په موسیٰ علیه السلام باندے په دعوت کولو فرعون ته او دَ هغوی کیدُ ونه او تلبیس اچول په قوم باندے او تازلیدل په هغوی باندے دَ عذاب او لعنت په دنیا او آخرت کښ ذکر دی او دا نعمتونه دی په موسیٰ علیه السلام او دَ هغهٔ په ملګرو باندے سره دَ نعمت دَ انزالِ تورات نه.

تفسیر :- په دے آیت ۳۶ کښ دعوت دَ موسیٰ علیه السلام په اختصار سره ذکر دے او تکذیب دَ فرعونیانو په دوه طریقو سره، اول تکذیب دَ معجزاتو چه دا سحر دے دویم تکذیب دَ توحید چه دا دَ مشرانو نه خلاف دے ځکه چه مراد دَ هٰذَا نه بیان دَ توحید دے.

۳۷ :- هر کله چه دوی په ضمن دَ تکذیب کښ موسیٰ علیه السلام ته دَ ګمراهیٔ نسبت اوکړو نو موسیٰ علیه السلام دَ هغے جواب اوکړو په دے آیت کښ په تفویض (سپارل) سره علم دَ الله تعالیٰ ته.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَاُ مَا

او اُوئیل فرعون اے مشرانو دَ قوم نه

عَلِمْتُ لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرِيْ ج

پیژنم زه ستاسو دَپاره هیڅ حقدار دَ بندګۍ او دَطاعت سِوا زما نه

فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ

پس بل کړه اُور زما دَپاره اے هامان په خټو باندے

فَاجْعَلْ لِّيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَطَّلِعُ

پس جوړه کړه ما لره بنګله کیدے شي چه بره او خیژم

اِلٰٓى اِلٰهِ مُوْسٰى لا وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ

په الله دَ موسٰی پسے او یقینًا زه ګمان کوم په دهٔ باندے

مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ وَاسْتَكْبَرَ هُوَ

دَ دروغژنو نه - او لويي اوکړه دهٔ

اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ، کښ اجمالًا اشاره ده چه فرعونيان به تباه کيږي په عذاب سره نو معلومه شوه چه دوی ګمراهان دی۔

۳۸: دا دعوٰی دَ فرعون ده دَحصر دَ الوهيت په خپل ځان کښ مراد دَ دے دا دے چه بغير زما دَ اجازت نه بل اِله نشته او زهٔ هم اِله یم لکه دلالت کوی پدے باندے سورۃ اعراف ۱۲۷۔ او انکار دَ بل الٰه نه او په الله دَ موسٰی پسے بره ختل دا ټول تلبيس دَ فرعون دے په خپل قوم باندے۔ دَپاره دَ دے چه قوم جاهلان دی او زما تابعداری کوی۔ لکه پدے قول کښ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ (زخرف ۵۴)۔

فَاَوْقِدْ لِيْ يٰهَامٰنُ عَلَى الطِّيْنِ، مراد دَ دينه پخے خښتے جوړول دی او دا طريقه ايجاد دَ فرعون دے بيا صرح (ما نړۍ) جوړول دی او بيا دَ هغې ټکړے کيدل وغيره دا قصے صحيح ثابت نه دی۔ وَاِنِّيْ لَاَظُنُّهٗ، پدے کښ اشاره کوی چه ما نړۍ جوړولو ته ضرورت نشته ځکه چه موسٰی دروغژن دے۔

وَجُنُوۡدُهٗ فِى الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَـقِّ

او لښکرو دَ دهٔ په ملک کښې بغير دَ حق نه

وَظَنُّوۡۤا اَنَّهُمۡ اِلَيۡنَا لَا يُرۡجَعُوۡنَ ﴿۳۹﴾

او گمان اوکړو دوی چه یقیناً دوی به مونږ ته نشي راگرځیدلے ۔

فَاَخَذۡنٰهُ وَجُنُوۡدَهٗ فَنَبَذۡنٰهُمۡ

نو اونیوو مونږ دهٔ لره او لښکرے دَ دهٔ نو گذار کړل مونږ دوی لره

فِى الۡيَمِّ‌ۚ فَانۡظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په دریاب کښې نو اوگوره چه څه رنگ شو انجام

الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۴۰﴾ وَجَعَلۡنٰهُمۡ اَئِمَّةً يَّدۡعُوۡنَ

دَ ظالمانو ۔ او اوگرځول مونږ دوی لره پیشوایان چه بلنه کوی

اِلَى النَّارِ‌ۚ وَيَوۡمَ الۡقِيٰمَةِ لَا

اور ته او په ورځ دَ قیامت به

يُنۡصَرُوۡنَ ﴿۴۱﴾ وَاَتۡبَعۡنٰهُمۡ فِىۡ هٰذِهِ الدُّنۡيَا

دَ دوی مدد نشي کولے ۔ او را اولیږه مونږ په دوی پسے په دے دُنیا کښې

ف۳۹ :۔ دَ دوی دوه مرضونه ئے ذکر کړل ۔ اوّل استکبار په باطل یعنی شرک او کفر ۔ دوّیم انکار دَ بعث بعد الموت نه ۔

وَظَنُّوۡٓا ، مراد دَ ظن نه دَ دوی عقیده ده ۔

ف۴۰ :۔ دا صریح نص دے په نیولو دَ فرعون او غرق کولو دَ هغهٔ باندے او فَانۡظُرۡ كَيۡفَ آیه کښې اشاره ده چه دا لوے عبرت دے ظالمانو ته ۔

ف۴۱ :۔ اوله جمله کښې دَ دوی دنیوی حال ذکر شویدے یعنی دوی دَ کفر او دَ شرک دعوت کوونکی وو ، معلومه شوه لفظ امام دَ گمراهۍ په اقتداء کښې هم استعمالیږی ۔

لَعْنَةً ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ

لعنت او په ورځ دَ قيامت به دوى دَ

الْمَقْبُوحِيْنَ ﴿٤٢﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى

بد وئيلو شوؤ نه وى. او يقينًا وركړے وو مونږ موسىٰ عليه السلام ته

الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ

كتاب روستو دَ هغے نه چه هلاک کړلے مونږ پيړئ

الْاُوْلٰى بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى

مخکنئ دَ پاره دَ پوهے (دَ رڼونو) خلقو لره او دَ پاره دَ هدايت

وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿٤٣﴾

او دَ رحمت دَ دے دَ پاره چه دوى نصيحت واخلى.

۴۲: په دے کښ ذکر دَ عذاب دنيوى او اخروى دواړو دے.
الْمَقْبُوحِيْنَ، هلاک کړے شوے يا بد شکلى يا لرے کړے شوے
دَ رحمت دَ الله تعالىٰ نه.
اَتْبَعْنَاهُمْ، په دے کښ معنىٰ دَ هميش والى ده.
۴۳: دَ قوم فرعون اهلاک لوے انعام وو اوس بل انعام ذکر
کوى چه هغه کتاب تورات دے موصوف په درے لوے صفتونو
سره.
مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا، ابن کثير ليکلى دى چه دا دليل دے چه دَ فرعون
نه روستو الله تعالىٰ په يو امت باندے استيصالى (دَ ويخه ويستونکے)
عذاب نه دے راليږلے. هاں يو يو کلى باندے عذاب راغلے دے
او راځى.
بَصَآئِرَ، کښ اشاره ده دليلونو او مثالونو وغيره ته.
وَهُدًى، کښ اشاره ده عقيدے او اعمالو ته او رَحْمَةً کښ اشاره
ده بشارتونو او ثوابونو ته.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ
او نه وې ته په طرف مغربي کښې کله چه حواله کړو مونږ
اِلٰى مُوْسَى الْاَمْرَ وَمَا كُنْتَ مِنَ
موسیٰ علیه السلام ته کار د پیغمبرئ او نه وې ته د
الشّٰهِدِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَلٰكِنَّآ اَنْشَاْنَا قُرُوْنًا
حاظرو ناظرو نه۔ او لیکن مونږ پیدا کړے پیړئ
فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنْتَ
نو اوګډه تیر شول په هغوی باندے عمرونه او نه وې ته
ثَاوِيًا فِيْٓ اَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ
اوسیدونکے په مدین والو کښې چه لوستلے تا په هغوی باندے
اٰيٰتِنَا ۙ وَلٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِيْنَ ﴿۴۵﴾
آیاتونه زمونږ او لیکن یو مونږه رالیږونکی۔

۴۴ ۔ خلاصه:۔ تر دے ځایه پورے مقامات موسویه ختم شول۔ د دے آیت نه تر ۵۱ پورے دویم باب دے په دیکښې اثبات د صدق د رسول دے او حکمت د ارسال رسل دے۔ بیا زجر دے منکرینو د کتاب او رسول ته او ترغیب دے قرآن ته او دلیل نقلی دے د اهل کتاب سابقین نه او د هغوی لس صفات، بیا جواب د سوال دے په نفی د هدایت سره د رسول نه بیا زجر دے منکرینو ته او تخویف دنیوی دے۔

تفسیر:۔ په ۴۴، ۴۵، ۴۶ کښې اثبات د صدق رسول دے تفریع په قصه د موسیٰ علیه السلام باندے او دا استدلال دے په عدم حضور د نبی صلی الله علیه وسلم په وخت د واقعاتو د موسیٰ علیه السلام کښې یعنی حاضر نه وو په دغه حالاتو کښې او سره د دے نه رښتنی واقعات یې ذکر کړل نو معلومه شوه چه

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ إِذْ نَادَيْنَا

(او نه وې ته په طرف دَ طور غر کښې کله چه آواز وکړو موږ موسٰی ته دَ پاره دَ کتاب)

وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ

(او لیکن رالیږلې موږ ته رحمت ستا دَ رب دَ طرف نه دَ پاره دَ دې چه ویره ورکړې)

قَوْمًا مَّآ اَتٰهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ

(هغه قوم ته چه نه دې راغلې دوی ته هیڅ ویره ورکونکې ستا نه)

قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ۝۴۶

(مخکښې دَ پاره دَ دې چه دوی نصیحت قبول کړي.)

وحی ورته شوېده او نبي صادق دے.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ، په دے کښې مراد اول وخت دَ وحی دَ موسٰی علیه السلام دے په واپسۍ کښې دَ مدین نه مصر ته چه هغه دَ دے سورت په ۳ کښې ذکر شو.

وَمَا كُنْتَ مِنَ الشّٰهِدِيْنَ، دا نفی په طریقه دَ عموم سره ده روستو دَ خصوص نه یعنی په هیڅ زمانه کښې حاضر ناظر نه دے (غیبي حالاتو بانده نه دې).

قُرُوْنًا، نه مراد ډیرے زمانے دی چه په هغې کښې رسول نه وُو راغلې. زمانه دَ فترة ده نو په هغې کښې رسول ته ډیر ضرورت پریوتلو نو (فَاَرْسَلْنٰكَ) مقدر دے.

تَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا، مراد دَ دے لوستل دَ شاګرد دی په استاد بانده مطلب ئې دا دے چه ته په مدین کښې دیره نه وې چه تا دَ هغوی نه دا واقعات ایزده کړے دی کوم چه دَ موسٰی علیه السلام حالات وُو په مدین کښې.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الطُّوْرِ اِذْ نَادَيْنَا، مراد دَ دے نه وخت دَ کتاب ورکولو دے موسٰی علیه السلام ته په طُور کښې یعنی په دغه وخت کښې هم حاضر نه وې او بیا هم موږ تا ته خبر درکړو او رسول هم اوګرځولې دَ وجې دَ رحمت نه.

وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌۢ بِمَا

او که چرے نه وے دا خبره چه اورسی دوی ته مصیبت په سبب د هغه عملونو چه

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَيَقُوْلُوْا رَبَّنَا

چه مخکښ لیږلے دی لاسونو د دوی نو وائی به اے ربه زمونږ

لَوْلَآ اَرْسَلْتَ اِلَيْنَا رَسُوْلًا فَنَتَّبِعَ

ولے تا نه رالیږلو مونږ ته رسول پس تابعداری به کړے وے

اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾

مونږ د آیاتو ستا او وے به مونږ د مؤمنانو نه۔

۴۷:- دا جواب د سوال دے چه د رسول رالیږلو ته څه ضرورت وو؟ عذاب به ئے دوی باندے رالیږلے وے مخکښ د رسول رالیږلو نه۔ جواب دے په بیان د حکمت د ارسال رسول سره چه هغه دفع عذر د خلقو ده لکه چه سورۃ طٰهٰ ۱۳۴ کښ او سورۃ نساء ۱۶۵ کښ تیر شویدی۔ او د آیت په آخر کښ لِمَآ اَرْسَلْنَاكَ پټ مراد دے۔

اَنْ تُصِيْبَهُمْ، په دیکښ معنیٰ د وخت پټه ده یعنی په وخت د رسیدلو د عذاب کښ فیقولوا فنتبع۔

وَنَكُوْنَ، دا تول د لولا د لاندے داخل دی او ان تصیبهم ظرف دے د دے درے والو د پاره یعنی چه دا درے واړه کارونه نوے په وخت د رسیدلو د عذاب کښ نو مونږ به دوی ته رسول نه وے رالیږلے بلکه عذاب به مو درته ورکړے وے۔

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا

نو هر کله چه راغے دوی ته حق (رسول او قرآن) دَ طرف زمونږ نه

قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ

اُوئیل دوی ولے نشي ورکیدلے دهٔ ته پشان دَ هغے چه ورکړے شوے دے

مُوْسٰى ط اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ

موسیٰ علیه السلام ته ، آیا دوی کفر نه دے کړے په هغه کتاب

اُوْتِيَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ ج قَالُوْا سِحْرٰنِ

چه ورکړے شو بوؤ موسیٰ علیه السلام ته دَ دے نه مخکښ وئیلے دی دوی دا دوه جادوګر دي

تَظٰهَرَا قف وَقَالُوْآ اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٨﴾

چه امداد ئے کړیدے دَ یو بل سره او دوی وئیلے دی چه موږ په هر یو باندے کفر کوؤنکی یو۔

٤٨:۔ په دے کښ زجر دے منکرینو دَ قرآن او دَ رسول ته په دوه طریقو سره اوله طریقه دَ انکار دا ده چه دوی اوئیل چه دے رسول ته دَ موسیٰ علیه السلام په شان معجزات او کتاب په یوځے ولے نشي ورکیدلے او دَ دے په جواب کښ دَ دوی دَ انکار دویمے طریقے ته اشاره ده او هغه یوه خاص واقعه وه هغه دا ده چه دَ یهودیانو دَ یو عالم ملاقات اوشو دَ قریش مکه سره ، نو دوی تریته تپوس اوکړو چه دا نبي دعوای دَ نبوت کوی او دَ توحید مسئله کوی او وائي چه ذبح او نذر په نوم دَ غیر الله باندے حرام دے او دے دعوای دَ نبوت کوی ته دَ دے باره کښ څه وائے نو هغه ورته اوئیل چه دا سے زمونږ په کتاب کښ هم شته دے نو قریش غصه شول او انکار ئے اوکړو او دوی اوئیل سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا یعنی تورات او قرآن دواړه جادو دے او دَ یو بل سره ئے امداد کړیدے۔

قُلْ فَأْتُوا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ

ته اوايه نو راوړئ تاسو يو كتاب دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه چه هغه

اَهْدٰى مِنْهُمَآ اَتَّبِعْهُ اِنْ كُنْتُمْ

ښه هدايت والا وی دَ دے دواړو نه تابعداری به يې اوكړم زهٔ كه چرے تاسو

صٰدِقِيْنَ ﴿۴۹﴾ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَكَ

يئ رشتني ۔ نو كه چرے دوی قبوله نكړی خبره ستا

فَاعْلَمْ اَنَّمَا يَتَّبِعُوْنَ اَهْوَآءَهُمْ ؕ

نو پوهه شئ چه يقيناً تابعداری كوی دوی دَ خواهشاتو خپلو ،

وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ

او څوك ډير بے لارے دے دَ هغه چا نه چه تابع وی دَ خواهش خپل بغير

هُدًى مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِی

دَ هدايت دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه ، يقيناً الله تعالیٰ توفيق نه وركوی

سوال :۔ دا جواب دے دَ دے قول چه سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا يعنی چه دوی دَ قرآن او تورات دواړو نه انكار كوی نو دوی دے دَ دے نه ښهٔ هدايت والا كتاب راوړی چه په هغې كښ يے شرك جائز كړے وی په دے شرط چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه وی دا تحدی ده او طريقه دَ مناظرے هم ده ۔

ع ۸ ۸

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۰﴾ وَلَقَدْ وَصَّلْنَا

قوم ظالـمانو ته - او يقيناً بويل پسې پيوست بيان کړي مونږ

لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۱﴾

دوی ته وینا د دې د پاره چه دوی نصيحت قبول کړي.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ

هغه کسان چه ورکړي دي مونږ دوی ته كتاب مخکښ د قرآن نه

هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ وَاِذَا يُتْلٰى عَلَيْهِمْ

دوی پرې باندې ایمان راوړي - اوکوم وخت چه اولوستلې شي په دوی باندې

النصف

۵۰:- دا بیان د عجز د دوی دې د کتاب راوړلو نه په خپل شرک باندې او په هغې باندې تفریع ده په فَاعْلَمْ سره یعنې چا سره چه دلیل شرعي نه وي نو مستلزم ده چه دوی به د خواهش تابع وي او تابعداري د خواهش ضلال او ظلم دې.

الظّٰلِمِيْنَ، کښ اشاره ده چه سره د علم نه دوی عنادي کافران دي.

۵۱:- دا رد دې په اتباع د خواهش باندې.

وَصَّلْنَا لَهُمْ، یعنې وحی لره مونږ د رسولانو په واسطه پرله پسې درلیږلې ده د پاره د دفع د عذر د خلقو یا د الْقَوْلَ نه مراد مضمون د قرآن دې او مراد دا دې چه د قرآن مضامین وعد وعید، دعوی، دلیلونه، قصص، امثال وغیره د یو بل سره پیوست پرله پسې مونږ بیان کړیدي نو دا ترغیب دې قرآن ته.

۵۲:- دا دلیل نقلي دې د مخکنو علماء اهل کتاب نه او د هغوی لس صفات ذکر دي - په دې آیت کښ اول صفت د دوی ذکر دې.

بِهٖ ضمیر الکتاب ته راجع دې یعنې دوی په خپل کتاب باندې ایمان لري.

قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِهٖٓ اِنَّهُ الْحَقُّ مِنْ

دوی وائی ایمان راوړے دے مونږ پدے یقینًا دا حق دے دَ طرف دَ

رَّبِّنَآ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلِهٖ مُسْلِمِيْنَ ﴿۵۳﴾

رب زمونږ نه یقینًا مونږ ووُ دَ دینه مخکښ مسلمانان ۔

اُولٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ اَجْرَهُمْ مَّرَّتَيْنِ

دغه کسان ورکولے په شی دوی ته ثواب دَ دوی دوه کرته (برغ)

بِمَا صَبَرُوْا وَيَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ

پدے وجه سره چه دوی صبر کړیدے او دفع کوی دوی په نیکئ سره

السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۵۴﴾

بدئ لره او دَ هغې مال نه چه مونږ دوی ته ورکړے دے خرچ کوی په لار دَ الله تعالیٰ کښ

ف۵۳:۔ پدیکښ دوه صفتونه دی ایمان بالقرآن او اسلام راوړل مخکښ دَ قرآن دَ نزول نه او دلته بِهٖ او اِنَّهٗ ضمیرونه قرآن ته راجع دی او دَ دینه معلومه شوه چه مخکنو خلقو نه هم مسلمانان وئیلے کیږی کوموچه صحیح ایمان راوړے دے۔

ف۵۴:۔ پدیکښ درے صفتونه ذکر دی۔ ۱ صبر، ۲ دفع دَ سیئه ۳ په حسنه سره اتفاق کول۔

مَرَّتَيْنِ، هرکله چه په مخکښ آیاتونو کښ ئے ایمان په تورات او ایمان په قرآن ذکر کړو دَ دے وجے نه ئے دوه اجرونه ذکر کړل او دا دوه اجرونه په سبب دَ یو عمل سره دی لیکن په سبب دَ ملګرتیا دَ دویم عمل نو په اول کښ څلور اجرونه دی۔

يَدْرَءُوْنَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ، دا الفاظ عام دی او شامل دی ډیرو امورو ته۔

اَلْحَسَنَةَ، کښ خائسته اخلاق، نرم کلام، صبر وتحمل او توبه استغفار او دعوت دَ توحید او سنت ټول داخل دی۔ او اَلسَّيِّئَةَ کښ دَ اَلْحَسَنَةَ مقابل بد اخلاقی، سختے خبرے، کنځل او طعنونه، ګناهونه شرک او بدعات ټول داخل دی۔

وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ وَقَالُوا

او کله چه دوی واوری بے فائدے خبرے مخ اړوی د هغے نه او دوی وائی

لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ

موږ د پاره زموږ عملونه دی او تاسو لره ستاسو عملونه دی سلام د جدائی دے

عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ ﴿۵۵﴾ إِنَّكَ

په تاسو باندے نه لټوو موږه ملګرتیا د جاهلانو. یقیناً ته

لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

نشے رسولے مقصد ته هغه چاله چه ته ئے خوخوے او لیکن الله تعالیٰ

يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ

رسوی مقصد ته هغه چاله چه او غواړی او هغه پوهه دے

بِالْمُهْتَدِينَ ﴿۵۶﴾ وَقَالُوا إِنْ نَتَّبِعِ

په هدایت موندونکو. او دوی وائی که چرے تابعداری اوکړو موږ

۵۵:۔ په دیکښ شلورصفات دی۔ اعراض د لغو نه دا دے چه د لغو جواب نه ورکوی، لغو نه قبلوی، لغوکښ شرکت نه کوی۔ او لغوا عام دے طعنونه، کنځل، لوبے غزلے وغیره او دا سے په سورة الفرقان ۷۲ کښ دی.
سَلَامٌ عَلَيْكُمْ، دا سلام متارکت دے یعنی زموږ ستاسو دین جدا جدا دے موږ تاسو ته کنځل وغیره نه کوو۔ او که دا معنیٰ شی چه موږ تاسو سره جنګ نه کوو نو دا منسوخ دے او دا سلام تحیه نه دے دا سے په سورة فرقان ۶۳ کښ تیر شوے دے۔
لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ، یعنی طریقے او اخلاق او ملګرتیا د جاهلانو نه غواړو.
۵۶:۔ دا جواب د سوال دا دے چه هرکله دا نبی صادق دے نو خپل خپلوان پرے ولے ایمان نه راوړی۔
حاصل جواب دا دے چه توفیق د هدایت په اختیار د الله تعالیٰ کښ دے او په دے آیت کښ رد دے په شرک فی التصرف باندے یعنی د

الْهُدٰى مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ اَرْضِنَاؕ

دَ هدايت په منكرتيا ستاكښې اوبه تختولے شو موږ دَ ملک خپل نه

اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا

آيا ځائے نه دے وركړے موږ دوى ته په حرم كښې چه امن والا دے

يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا

راټوليږي كيږى هغے ته ميوے (غلے) دَ هر قسم دَ پاره دَ خوراک

مِّنْ لَّدُنَّا وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾

دَ طرف زموږ نه او ليكن ډير دَ دوى نه نهٔ پوهيږى۔

نبى صلى الله عليه وسلم په اختيار كښې هدايت نشته۔ دلته مراد دَ هدايت نه توفيق وركول او مقصد ته رسول دى دا دَ نبى په اختيار كښې نشته او هدايت چه معنىٰ دَ لارے خودل دى نو هغه دَ نبى ذمه وارى ده۔ او آيت نازل شوے دے په باره دَ ابوطالب كښې په قول دَ اكثرو مفسرينو ليكن حكم ئے عام دے۔

ع۵۷:۔ دا زجر دے او اشاره ده چه دا مشركانِ مكه (خپلوان دَ پيغمبر) دَ دے وجے نه منكر نه دى چه دا قرآن او توحيد ورته ناحق ښكارى بلكه دَ خلقو دَ ويرے دَ وجے نه ايمان نه راوړى۔ لكه اوس زمانه كښې ډير هم داسے شته چه دَ خلقو دَ ويرے دَ وجے نه دَ حق مرسته نه كوى۔ نُتَخَطَّفْ ، مراد دَ دے شړل او ويستل دى دَ وطن نه او په تكليفونو سره تنګول دى۔ او دا تشبيه ده لكه ټپوس چه دَ چرګے ‌بچى تختوى۔

او دَ دوى جواب دے پدے قول سره اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ يعنى په دوى باندے ښكاره درے انعامات كړيدى۔ ۱ حرم كښې ځائے وركول ۲ امن دَ دشمنانو نه ۳ هر قسم غلے او ميوے حرم مكه ته راجمع كيدل دَ دوى دَ خوراک دَ پاره۔ لكه په سورة قريش ع۴ ،ع۵ كښې۔ نو حاصل دا شو چه الله تعالىٰ تاسو له په حال دَ كفر او شرک ستاسو كښې دا نعمتونه دركړيدى نو په حالت دَ اسلام كښې به هم دركوى دَ خلقو نه ولے ويريږئ۔

وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ

او ډېر هلاک کړي دي موږ کلي چه د حد نه تېر وتلي وو

مَعِيشَتَهَا ۚ فَتِلْكَ مَسَاكِنُهُمْ لَمْ

په ژوند خپل کښې پس دغه دي کورونه د دوی چه او سېدل

تُسْكَن مِّن بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا ۖ

نه دي شوي په هغې کښې روستو د دوی نه مګر لږ وخت

وَكُنَّا نَحْنُ الْوَارِثِينَ ﴿٥٨﴾ وَمَا كَانَ

او وو موږ آخري مالکان ۔ او نه دے

رَبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبْعَثَ

رب ستا هلاکوونکے د کلو تر دے پورے چه او لیږي

فِي أُمِّهَا رَسُولًا يَتْلُو عَلَيْهِمْ

په مېنځ د هغې کښې رسول چه بیا توي په دوی باندے

آيَاتِنَا ۚ وَمَا كُنَّا مُهْلِكِي الْقُرَىٰ

آیاتونه زموږ او نه وو موږ هلاکوونکي د کلو

۵۸: دا تخویف دنیوی دے هغه چا ته چه د مال او دنیا د وسعت په وجه باندے مست شي او ایمان نه راوړي او دا هم جواب دے د مخکښې قول د منکرینو یعني د مخلوق نه مه وېرېږئ بلکه د الله تعالی د عذاب نه اوېرېږئ۔

بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا، د حد نه تېر شوي وو په ژوند او اسباب د معیشت کښې۔ یا جاهل وو د شکر د معیشت خپل نه۔ په اوله معنی سره (فی) پټ دے او په دویمه معنی سره (فی) ته ضرورت نشته۔

إِلَّا قَلِيلًا، مراد د دے نه صرف ورتلل او تماشا کول دي د هغه کنډرانو۔

إِلَّا وَأَهْلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴿٥٩﴾ وَمَا أُوتِيتُم
مگر او سیدونکی د هغې ظالمان دي . او هغه چه درکړی شوی دی تاسو ته
مِّن شَيْءٍ فَمَتَٰعُ ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا
څه څیز نو لږه نفع د ژوندی دنیوی ده
وَزِينَتُهَا ۚ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ
او ښول د هغې دے او هغه چه د الله تعالیٰ سره دی غوره دی
وَأَبْقَىٰٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٠﴾ أَفَمَن
او همیشه دی آیا نو د عقل نه کار نه اخلئ آیا نو هغه څوک

۵۹ :- جواب د سوال دے چه هرکله دا مکے والا هم په بطر او تکبر کښ واقع شویدی نو الله تعالیٰ په دوی باندے عذاب ولے نه راولیږلو حاصل جواب دا دے چه د رسول د رالیږلو انتظار وو ډیاره د دے وجے چه په دوی باندے حجت قائم شي او د دوی ظلم ښکاره شي ځکه چه دا ظلم سبب د عذاب دے . په اوله جمله کښ سبب د تاخیر د عذاب ذکر کړے دے او په دویمه جمله کښ سبب د عذاب ذکر دے .

أُمِّهَا ، ام القری مکه مکرمه ده چه اصل د عرب او عجم دے او دا سے په سورة شوریٰ ۷ کښ هم ذکر دے او دیته ام القری د دے وجے نه ویلے شی چه اول کعبه په دے ځائے کښ جوړه شوے ده لکه په سورة ال عمران ۹۶ کښ او حدیث کښ راغلی دی چه زمکه د دے ځائے نه خوره وله شوے ده .

۶۰ :- خلاصه :- د دے آیت نه تر آخر د سورت پورے دریم باب دے په دیکښ تزهید فی الدنیا دے او فرق په مینځ د اهل دنیا او اهل آخرت دے . بیا تخویف اخروی دے او په هغې کښ شپږ سوالات ذکر کړے دی . بیا عقلی دلیلونه دی بیا تخویف اخروی دے . بیا واقعه د قارون ده په تخویف دنیوی سره . او بیا امور متفرعه دی او خطابات د نبی صلی الله علیه وسلم دی په تشجیع سره او اختتام دے په کلماتو د

وَعَدْنٰهُ وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ

چه وعده کړیده موږ دَ هغه سره وعده خائسته پس هغه په هغه تحقیق کیدونکے دَ هغے وی

كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

پشان دَ هغه چا چه مزے ورکړے وی موږ مزے دَ ژوندون دلیوی

ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾

بیا هغه په ورځ دَ قیامت به دَ حاضر کړے شوؤ نه وی (په عذاب کښ)۔

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ

او په کومه ورځ چه آواز به ورکړی دوی ته نو وائی به کوم ځائے دی

شُرَكَآءِيَ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۶۲﴾

برخے والا زما هغه چه تاسو پرے ګمان کوؤ۔

توحید سره۔

تفسیر:۔ پدے آیت ۶۱ کښ تزهید فی الدنیا دے په ذکر دَ فرق سره په مینځ دَ متاع دَ دُنیا او دَ ثواب دَ آخرت کښ۔ دَ دنیا ځیزونه دوه قسمه دی دَ بعضے نه دَ خوراک څښاک پوشاک وغیره فائدے اخستلے کیږی او بیا زر فنا شی، دیته متاع وائی او بعضے ځیزونو نه هیڅ فائده نه اخستلے کیږی صرف ډول ډال دَ پاره وی هغے ته زینت وائی۔

۶۱:۔ پدیکښ بیان دَ فرق دے په مینځ دَ دُنیا پرستو او دَ جنتیانو کښ او متعلق دے دَ مخکښ آیت په طریقه دَ لف نشر غیر مرتب سره۔

اَلْمُحْضَرِيْنَ، مراد دَ دیته مشرکین او نافرمان دی دَ دے وجے نه روستو دَ مشرکانو دَ پاره تخویف ذکر کوی۔

۶۲:۔ پدیکښ تخویف اخروی دے مشرکیتو (دنیا پرستو) ته۔ پدے آیت کښ اول سوال ذکر دے په باره دَ متبوعینو ګمراهانو کښ چه هغوی خپل تابعداران ګمراه کړی ته رابلی لکه مشرکان او مبتدعین پیران او ملایان۔

تَزْعُمُوْنَ، تاسو دعوی کوله چه دا زموږ سفارشیان او دَ الله تعالی شرکاء دی۔

قَالَ الَّذِيْنَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ

اوبه وائي هغه كسان چه پوره شويدے په هغوي باندے حكم دَ عذاب

رَبَّنَا هٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَغْوَيْنَا ۚ

اے ربه زموږه دا هغه خلق دي چه ګمراهئ ته رابللی دي موږ

اَغْوَيْنٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۚ تَبَرَّاْنَآ

ګمراهئ ته رابللے دي موږ دوي لره لکه چه موږه ګمراه وو بیزاري ښکاره کوو موږ

اِلَيْكَ ؗ مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ ﴿۶۳﴾

تا ته نه وو دوي موږ لره عبادت کوونکی.

۶۳۔ په دے آیت کښ جواب دَ متبوعینو ذکرشوے دے او دوي دَ دے وجے نه جواب کوي چه ضمناً په دوي باندے اعتراض دے چه تاسو خپل تابعداران ولے ګمراه کړے دي حاصل دَ جواب دا دے چه موږ په زور نه دي ګمراه کړي بلکه موږ صرف دعوت دَ ګمراهئ ورکړے دے نو دوي په خپله خوښه زموږ تابعداري کړے وه۔

حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ، مراد تر دے فیصله دَ عذاب دَ الله تعالی ده په دوي باندے په دے قول چه لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ (هود ۱۱۹)۔

اَغْوَيْنَا، اول دَ پاره دَ تسلیم دَ دعوے دے چه هاں موږ ګمراه کړے دي بیا تفصیل دَ جواب دے په دویم اَغْوَيْنَا سره یعني موږ ګمراهئ ته دعوت ورکړے دے۔

كَمَا اَغْوَيْنَا، تقدیر دَ عبارت دا دے فَغَوَوْا بِاِخْتِيَارِهِمْ كَمَا غَوَيْنَا بِاِخْتِيَارِنَا۔ (یعني دوي په خپله خوښه ګمراه شول لکه چه موږ په خپل اختیار سره ګمراه شوے وو)۔ یا کاف په كَمَا کښ دَ پاره دَ علت دے لکه په سورة صافات ۳۲ کښ۔

تَبَرَّاْنَآ اِلَيْكَ، یعني موږ باندے دَ دوي دَ وجے نه ملامتیا نشته ځکه چه موږ په دوي باندے زور نه وو کړے۔

مَا كَانُوْٓا اِيَّانَا يَعْبُدُوْنَ، یعني دوي موږ لره صرف اطاعت کړیدے

وَقِيْلَ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ

او اوبه وئيلے شي ورته اوبلئ شريکان ستاسو نو دوی به ورته آواز ورکړي

فَلَمْ يَسْتَجِيْبُوْا لَهُمْ وَرَاَوُا الْعَذَابَ ۚ

پس ورته به نکړي هغوی هيڅ جواب دوی ته او دوی به اوويني عذاب لره

لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا يَهْتَدُوْنَ ﴿۶۴﴾

(روائي به) ارمان دے چه دوی پوهيدلے (چه دا شريکان هيڅ مدد نشي کولے).

وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ مَاذَآ

او په کومه ورځ چه آواز به ورکړي دوی ته نو اووائي به څه ڼګه

اَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶۵﴾ فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ

جواب ورکړے وو تاسو رسولانو ته - نو پټ به شي په دوی باندے

عبادتونه ئے نور بزرګانو لره کړے دی نو د هغوی نه د هم تپوس اوکړے شي.

۶۴:- دا دويم سوال دے او دا په باره د هغه بزرګانو کښ دے چه دوی ورله عبادت کوؤ او هغوی ترينه هيڅ خبر نه لري.

فَدَعَوْهُمْ، يعنی دوی به هغوی لره خپل امداد ته را اوبلی نو هغوی به د دوی هيڅ استجابت او نه کړي

وَرَاَوُا الْعَذَابَ، ضمير مشرکانو ته راجع دے.

لَوْ اَنَّهُمْ كَانُوْا، دپاره د تمنی دے يعنی چه دوی به افسوس او ارمان اوکړي په هدايت پسے يا لَوْ شرطيه دے او جزا ئے محذوف ده او مراد د يَهْتَدُوْنَ نه دا دے که دوی ته علم وے چه دا بزرګان زمونږ د عبادتونو نه خبر نه لري نو دوی به د الله تعالیٰ سره نه شريکولے.

۶۵:- دا دريم سوال دے په باره د اتباع د رسولانو کښ يعنی اول دواړه سوالونه په باره د توحيد کښ وو او دا سوال په باره د اتباع سنت کښ دے.

اَجَبْتُمْ، يعنی اجابت قولی او عملی هم کړے وؤ يا مخالفت هم کړے وؤ.

فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنْبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿۶۶﴾

دلیلونه (خبرونه) پدا نه وړځ نو دوی به د بل نه هیڅ تپوس نشي کولے۔

فَأَمَّا مَنْ تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا

نو هر چه هغه څوک دے چه توبه یې کړیده (د شرک نه) او ایمان یې راوړیدے او عمل یې کړیدے برابر د سنت سره

فَعَسَىٰ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُفْلِحِينَ ﴿۶۷﴾

نو خامخا دی به هغه د کامیابو نه۔

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ

او رب ستا پیدا کوی څه چه اوغواړی او خپله خوښه کوی،

مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۚ سُبْحَانَ

نشته دے مخلوق لره هیڅ اختیار (د خدایۍ توب) پاکی ده

اللّٰهِ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۶۸﴾

الله تعالیٰ لره او اوچت دے د هغې نه چه دوی ورله شریکان کنړی۔

۶۶۔ الْأَنْبَآءُ، د دینه مراد هغه تاویلات او توجیهات وو چه دوی به د رد کولو د سنت د پاره پیش کول، او اختراعی دلیلونه یې جوړ کړے وو نو د هغې د هیریدلو په وجه یاندے په دومره هیبت زده شی چه د یو بل نه به هم تپوس نشي کولے۔

۶۷۔ د تخویف نه روستو بشارت دے مومنانو ته۔ عَسَىٰ، د کریم او د شریف د طرفنه د پاره د تحقیق راځی۔

۶۸۔ روستو د تخویف د مشرکانو او د بشارت د موحدینو نه عقلی دلیلونه ذکر کوی د پاره د رد د شرک او د اثبات د توحید۔ او پدے دلیل کښی اشاره ده چه چاله توفیق ورکوی د ایمان او عمل صالح او چاله نه ورکوی دا د الله تعالیٰ اختیار دے۔ او دا اول دلیل عقلی دے مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ، مراد د خیرة نه اختیار او تصرف د الوهیت دے او دا د ټول مخلوق نه حقیقتًا نفی ده په یکښی هغه اختیار مراد نه دے

وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ

او رب ستا پوهه دے په هغه څه چه پټوی سینے د دوی

وَمَا يُعْلِنُوْنَ ﴿۶۹﴾ وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰـهَ

او هغه چه دوی ښکاره کوی۔ او هغه الله تعالیٰ دے نشته حقدار د بندگۍ

اِلَّا هُوَ ۭ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاُوْلٰى

سوا د هغه نه، خالص هغه لره ستائنه د خدائی توب ده په دنیا کښ

وَالْاٰخِرَةِ ۡ وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ

او آخرت کښ او خاص هغه لره اختیار دے او خاص هغه ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿۷۰﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ

به ورکرځولے شئ۔ اُوایه خبر راکړئ

کوم چه موقوف علیه د پاره د تکلیف د احکامو راځی۔ او دا دلیل دے چه نبی صلی الله علیه وسلم نه مختار کل وئیل شرکی کلمه ده ځکه چه هغه لره د ټول عالم اختیار او تصرف نه ذاتی شته او نه عطائی۔

سُبْحٰنَ اللّٰهِ، دا تفریع د مسئلے د توحید ده په ماقبل دلیل باندے۔

۶۹:۔ دا دویم دلیل عقلی دے په باره د علم د الله تعالیٰ کښ روستو د بیان د صفت د تصرف نه. هر کله چه علم د خفی (پټ) مستلزم نه دے علم د ښکاره لره، ځکه چه د هغے د پاره کله نور موانع هم وی، د دے وجے نه يُعْلِنُوْنَ ئے مستقل ذکر کړو۔

۷۰:۔ دا تفریع د توحید ده په تیر شوی دلیلونو باندے او په دے آیت کښ څلور کلمات د توحید دی توحید د الوهیت، توحید د صفاتو، توحید د حکم، توحید د جزاء او حساب۔ او روستنۍ درے جملے په اصل کښ علت دے د پاره د اولنۍ جملے۔

اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا

که چرے اوګرځوی الله تعالیٰ په تاسو باندے شپه همیشه

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ

تر ورځ د قیامت پورے څوک دے واکدار سوا د الله تعالیٰ نه

يَأْتِيْكُمْ بِضِيَآءٍ ؕ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿۷۱﴾

چه راولی تاسو له رنړا د نمر، آیا نو تاسو نه آورئ .

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ

اووایه خبر راکړئ که چرے اوګرځوی الله تعالیٰ په تاسو باندے

النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

ورځ همیشه تر ورځ د قیامت پورے

مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَأْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ

څوک دے واکدار سوا د الله تعالیٰ نه چه راوړی تاسو ته شپه

سلک :- دا دریم دلیل عقلی دے او دا اعترافی سکوتی دے ځکه چه د مخاطب نه تپوس شوے دے او د هغه چپوالے ئے نقل کړے دے - او په دے آیت کښ د الله یو تفسیر دے چه نمر راخیژولے شی یعنی چه نمر کښ تصرف کوی هغه ته الله وئیلے کیږی - دا چه په جاهلانو کښ قصّه مشهوره ده چه شمس تبریز بابا په ملتان باندے نمر راکوز کړے دے دا دروغ دی منکرت قصّے دی او د شرک عقیده ده ځکه چه نمر کښ تصرف کول صرف د الله تعالیٰ شان دے -

اِنْ جَعَلَ ، ابن کثیر ذکر کړی دی چه جزاء د دے شرط محذوف ده یعنی لَا ضَرَّ ذٰلِكَ بِهِمْ (ضرورېه دا تکلیف ورکوی دوی ته) او مَنْ اِلٰهٌ ئے هم جزاء کیدے شی -

تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۷۲﴾
چه آرام به کوئ په هغې کښ، آیا پس تاسو نه وینئ۔
وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ
او د وجې د رحمت د الله تعالی نه گرځولے یئے ده تاسو لره شپه
وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا
او ورځ دے د پاره چه آرام اوکړئ په شپه کښ او د پاره د دے چه لټوئ
مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۷۳﴾
فضل د الله تعالی په ورځ کښ او د پاره د دے چه شکر اوکړئ۔
وَيَوْمَ يُنَادِيْهِمْ فَيَقُوْلُ اَيْنَ شُرَكَآءِيَ
او په کومه ورځ چه آواز به ورکړی دوی ته نو اووبه وائی کوم ځائے دی برخے والا زما
الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۷۴﴾ وَنَزَعْنَا
هغه چه تاسو گمان کوئ۔ او را اوباسو به

۷۲:۔ دا څلورم دلیل عقلی اعترافی سکوتی دے یعنی نمر غائب کول او شپه راوستل صرف د الله تعالی اختیار کښ دی۔
فائده:۔ په اول آیت کښ د شپے د دوام ذکر دے او د شپے اوریدل کیږی لیکن لیدل نه کیږی د دے وجے نه د هغے سره ئے آفَلَا تَسْمَعُوْنَ ذکر کړو۔
او په دویم آیت کښ د ورځے د دوام ذکر دے او په ورځ کښ لیدل کیږی د دے وجے نه آفَلَا تُبْصِرُوْنَ ئے ذکر کړو۔
۷۳:۔ دا پنځم عقلی دلیل دے په دیکښ د شپے او د ورځے نظام چلول او د هغے په ترتیب سره فائدے بیانول دا الله تعالی تصرف او اختیار دے یعنی تسکنوا متعلق دے د اللیل سره د لتبتغوا متعلق دے د والنهار سره او دواړه د دواړو سره هم متعلق کیدیشی۔ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ، د دے نه مراد توحید منل دی۔
۷۴، ۷۵:۔ دا تخویف اخروی دے او کوم چه په ۶۲ کښ تیر شو په هغے

مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ شَهِيْدًا فَقُلْنَا

دَ هر امت نه گواهي کوونکے نو اوبه وايو موږ

هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ فَعَلِمُوْٓا اَنَّ

راوړئ دليل تاسو (په شرک بانديے) نو دوي به پوهه شي چه يقينًا

الْحَقَّ لِلّٰهِ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

حق (دَ حق الثبوت خاص دَ الله تعالٰى ديے او ورک به شي دَ دوينه هغه چه دوي

يَفْتَرُوْنَ ۝٧٥ اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ ع

دروغ جوړول. يقينًا قارون وؤ دَ قوم

مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۖ وَاٰتَيْنٰهُ

دَ موسٰى عليه السلام نه نو زيلتے ئے اوکړه په دوي بانديے او ورکړے وو موږ دۀ ته

مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ

دَ خزانو نه په دومره قدر چه دَ هغے چابيانے خامخا درنے به وے

بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ ۗ اِذْ قَالَ لَهٗ

په يوه ډله طاقتوره بانديے كله چه اُوئيل دۀ ته

قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ

قوم دَ دۀ لوئ مه كوه يقينًا الله تعالٰى مينه نه كوي

کښې مراد فساد دَ عقيدے دَ دوي وؤ او په دے آيت کښې مراد
دا دے - چه دَ دوي شرک بے دليله دے - او مراد دَ شَهِيْدًا نه هغه
څوک دے چه دوي ته ئے دعوت او تبليغ کړے وؤ هغه به شهادت
اوکړي دوي ته دَ تبليغ کولو چه ما دوي ته تبليغ کړے وؤ او
شهادت به اوکړي دَ دوي دَ انکار کولو - اَلْحَقَّ، مراد دَ دينه حق دَ عبادت
او الوهيت دے - مَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ، هغه شرکی قصّے په باره دَ اولياؤ کښې
چه دوي دَ شان نه جوړ کړيدي -

الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٢﴾ وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ

دَ لويئ كوونكو سره۔ او اولټوه په هغې كښ چه دركړيدى تا ته الله تعالىٰ

الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ

كور روستنے او مه هيروه برخه خپله

مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ كَمَآ اَحْسَنَ اللّٰهُ

دَ دنيا نه او احسان كوه څكه چه الله تعالىٰ احسان كړيدے

ﻼﻙ:۔ دا دَ تخويف دنيوى دَپاره مثال دے تعلق لرى دَ ﻼﻧ سره او دا رنګ په دے واقعه كښ دليل دے چه مشرك او كافر سره په وخت دَعذاب راتللو كښ هيڅ څوك امداد نشي كولے نه دَ هغه معبودان باطله او نه مالونه او نه خدمتګاران او نه مريدان لكه چه دَ قارون حال په ﻼ كښ دغسے بيان كړيشويدے۔

مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى، مشهوره دا ده چه دے دَ موسىٰ عليه السلام دَ تره څوے وو دَ موسىٰ عليه السلام پلار عمران بن قاهث وو او دَ قارون پلار يصهر بن قاهث وو۔

فَبَغٰى عَلَيْهِمْ، دا يو جامع لفظ دے شامل دے كفر او شرك او تكبر او ظلم كولو ته۔

وَاٰتَيْنٰهُ، دا سبب دَ بغى دے لفظ دَ كنوز او مفاتح او تنوء او عصبه او اولى القوة ښكاره دليل دے چه دَدهٔ مالونه دَ حصر او دَ شمار نه بهر وو۔ او كُنُوْز كښ اشاره ده چه ښكاره مال ئے دَ دے نه علاوه وو دا خو پټ جمع كړے شوے خزانے وے او اشاره ده چه دَ هغے نه ئے زكوٰة صدقه فى سبيل الله نه وركوله څكه چه كنز هغه مال ته وئيلے كيږى چه زكوٰة تر ينه نه ادا كيږى۔ او وخت دَ اظهار دَ بغى دا دے

اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ، ديته فَرَح بَطِر وئيلے كيږى چه دَ هغے دَ وجے نه شرك كوى او قيامت هير كړى او عاقبت بانديے سوچ نه كوى او دَ الله تعالىٰ دَعذاب نه نه ويريږى۔

إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ ط

تا ته او مه لټوه فساد په ملک کښې،

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾

یقینًا الله تعالیٰ نه کوی مینه دَ فساد کوونکو سره۔

قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ

اُوئیل هغه یقینًا راکړے شویدی ماته دا دَ وجې دَ علم نه

عِنْدِي ط أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ

چه ما سره دے، آیا دے نه پوهیږی چه یقینًا الله تعالیٰ

أَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهِ مِنَ الْقُرُونِ

هلاک کړیدی مخکښې دَ دهٔ نه دَ پیړو نه

۷۷:- دَ دهٔ قوم رچه په هغوی کښې موسیٰ علیه السلام هم داخل دے) دهٔ ته دعوت دَ حق ورکړو چه په هغې کښې درے مناهی رفرح، نسیان دَ نصیب دَ دنیا، فساد) ذکر دی او دوه اوامر و اتبغ او احسن۔ او دوه ترغیبات رانّ الله لَا یُحِبُّ الْفَرِحِیْنَ) او رانّ الله لَا یُحِبُّ الْمُفْسِدِیْنَ) ذکر کړیدی۔

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ، په دې کښې اشاره ده ټولو جوانبو دَ توحید ته او عقیده دَ آخرت او دَ جنت ته۔

وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ، برخه دَ انسان په خپل مال کښې دَ خوراک څکاک پوشاک نه علاوه دا ده چه دَ الله تعالیٰ په لار کښې خرچ کړی او دا رنګ خپل صحت او قوت او ځوانی دَ الله تعالیٰ دَپاره صرف کړی۔

وَأَحْسِنْ، په دې کښې جمیع اعمالو دَ خیر ته اشاره ده۔

كَمَا أَحْسَنَ، کاف تعلیلیه دے علت دے دَ ما قبل دَپاره۔ په دے کښې اشاره ده چه هغه مالداری چه دَ دین خدمت پرے اوکړے شی نو دا هم دَ الله تعالیٰ احسان دے۔

وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ، دَ مال په قوت سره دَ کفر او شرک په دنیا کښې

مَنْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَّ اَكْثَرُ
هغه څوک چه ډیر کلک وو دده نه په طاقت کښ او ډیر وو
جَمْعًا ط وَلَا يُسْـَٔلُ عَنْ ذُنُوْبِهِمُ
په ډله کښ، او تپوس نه کیږی د ګناهونو د دوی
الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۷۸﴾ فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ
د مجرمانو نه - نو را اُوتلو دے په قوم خپل باندے

اشاعت کول دا لوے فساد دے۔
سے ۷۷:۔ دا ذکر د هغهٔ د بغی دے په انکار د نعمت د الله تعالیٰ سره او تبلیغ ورباندے اثر اونکړو بلکه (اِتَّابُكَ اللّٰهُ او وَاَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ) نه ئے انکار اوکړو چه دا مالونه ما په خپل هنر او تجارت وغیره سره پیدا کړیدی یعنی الله تعالیٰ نه دی راکړی۔
عَلٰى عِلْمٍ عِنْدِىْ، مراد د دینه هنر او تجارت دے او دا سے په سورة زمر ۴۹ کښ ذکر دی او فرق هلته ذکر کیدیشی۔ په آ وَلَمْ يَعْلَمْ کښ ئے توبیخ او قباحت د حال د قارون ذکر کړیدے چه سرهٔ ددے چه د فرعون د قوت د فوج او د ډیروالی د مال نه او بیا د هغهٔ د هلاکت نه پخپله مشاهدے سره خبر وؤ بیا هم دهٔ عبرت حاصل نه کړلو۔
وَلَا يُسْـَٔلُ، اشاره ده چه په وخت د عذاب دنیوی یا اخروی راتللو کښ د مجرم نه تپوس نه کیږی د پاره د دے چه څه عذر پیش نکړی ځکه چه په دغه وخت کښ عذر نه قبلیږی نو تپوس ته هم څه ضرورت نشته۔
فائده :۔ سورة اعراف ۶ او سورة حجر ۹۲ کښ تپوس کول ذکر شوی دی او په دے آیت کښ او سورة رحمٰن ۳۹ کښ تپوس نه کول ذکر شوی دی د دے یو تطبیق دا دے چه د نفس ګناه کولو تپوس تربنه نه کیږی او د ګناه د سبب او د کیفیت تپوس به کیږی۔ دویم تطبیق دا دے چه د توبیخ او د ملامته کولو د پاره تپوس کیدیشی او د ځان

فِيْ زِيْنَتِهٖ ۭ قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ

په دول خپل کښ، اوئیل هغه کسانو چه غوختلو دوی

الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ

ژوند دنیوی هاے ارمان دے چه وے مونږ له هشان

مَآ اُوْتِيَ قَارُوْنُ ۙ اِنَّهٗ لَذُوْ حَظٍّ

د هغے چه ورکړے شوے دے قارون ته یقینًا دے خاوند د برخے

عَظِيْمٍ ۝ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

لوے دے . او اُوئیل هغه کسانو چه ورکړے شوے هغوی ته علم

وَيْلَكُمْ ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ

تعجب دے په تاسو باندے ثواب د الله تعالیٰ غوره دے هغه چا لره

خبرولو د پاره تپوس نه کیږی ځکه چه الله تعالیٰ عالم دے .
دریم دا چه د عذاب نه وړاندے د حساب په وخت کښ به تپوس کیدیشی او په عذاب کښ د داخلیدلو په وخت کښ تپوس نه کیږی د پاره د دے چه څه عذر پیش نه کړی .
څلورم دا چه اَلْمُجْرِمُوْنَ، نه مراد نور مجرمان دی یعنی د یو قسم د مجرمانو د جرم به د بل مجرم نه تپوس نه کیږی .
سوال :- پدے آیت کښ ذکر د بل بغاوت د هغهٔ دے ، یعنی خپل تکبّر عملًا ښکاره کول . لکه نن چه بعضے بادشاهان خپل جشن مناووی یا بعضے پیران خپل عرسونه په خپل ژوند جوړوی او خپل زیب و زینت په هغے کښ ښکاره کوی .
قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا، اګرچه مسلمانان وو لیکن دنیا پرست او ناپوهه وو هغوی دا تمنا ښکاره کړه او قارون ته ئے د لوے برخے خاوند اُوئیلو . لکه اوس هم جاهلان خلق د سرمایه دارانو او نوابانو د حال ارمان کوی . او د هغوی صفتونه کوی .

اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ وَلَا يُلَقّٰهَآ

چه ایمان یې راوړے دے او عمل یې کړے برابر د سنت سره او نه ورکیږی دا خصلت

اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾ فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ

مګر صبر لاکو ته۔ نو غرق کړو موږ دهٔ لره او کورونو (خزانو) دهٔ

الْاَرْضَ قف فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ

زمکه کښ پس نه وه دهٔ لره هیڅ ډله

يَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۖ وَمَا كَانَ

چه مدد یې دهٔ کړیلوے سوا د الله تعالیٰ نه او نهٔ وو دے

مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿۸۱﴾ وَاَصْبَحَ الَّذِيْنَ

د بدله اخستونکو نه۔ او صبا کړو هغه کسانو

ت۸۰:۔ دا وعظ دے دغه جاهلانو ته د دنیا د ذلت په مقابله د آخرت کښ۔
الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ، معلومه شوه چه عالمان د الله تعالیٰ په نیزهغه کسان دی چه مالونه او جاه د دُنیا بانں ے هیڅ اعتبار نه کوی او یقین لری په فنا د دنیا او په دوباره ژوند بانں ے۔
وَيْلَكُمْ، یې دلته د پاره د تعجب او د زوزنے ذکر کړے دے او په دے لفظ را وړلو کښ اشاره ده چه په روستو مضمون بانں ے یقین او نکړئ نو هلاک به شئ۔
ثَوَابُ اللّٰهِ، مراد د دے نه نعمتونه د آخرت او د دُنیا دی چه په برکت د ایمان او عمل صالح سره حاصلیږی۔
وَلَا يُلَقّٰهَا، هَا ضمیر دغه نصیحت او خصلت ته راجع دے کوم چه د تیرے شوے جملے نه معلوم شو یعنی زهد په دنیا کښ او رغبت په آخرت کښ۔
ت۸۱:۔ تیر شوے بغاوت او تکبر ښکاره کول سبب شو د عذاب د دهٔ هر کله چه دے متکبر شان او جت کتړلو نو الله تعالیٰ ورله په زمکه خکته والے ورکړو۔ حدیث صحیح کښ راغلی دی چه هغه انسان چه په زمکه کښن

تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْاَمْسِ يَقُوْلُوْنَ

چه ارمان يې كړيوو د حالت د ده پرون وئيل يې

وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ

عجيبه ده يقيناً الله تعالىٰ فراخوي روزي هغه چا لره

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ ۚ لَوْلَآ

چه اوغواړي د بندګانو خپلو نه او تنګوي كه چرې احسان

اَنْ مَّنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ؕ وَيْكَاَنَّهٗ

نه وے كړے الله تعالىٰ په مونږ بانديے خامخا خ كړي به يې وے مونږ لره، عجيبه ده يقيناً

يې لويې كوله (او خپله جامه يې د ګيټونه كوزه كړے وه) نو په زمكه كښ په ننوتو كړے شي او تر قيامته پورے په پكښ ښكته ورځي.

وَبِدَارِهٖ، كور نه مراد ټولے خزانے د هغهٔ دي۔

فَمَا كَانَ لَهٗ مِنْ فِئَةٍ، فِئَةٍ هغه جماعت او ډلے ته وئيلے شي چه انسان ورته څځ راځي د حاجتونو او ضرورتونو د پاره يعني قارون چه الله تعالىٰ سره څوک شريكان ګنړل يا خپل نوكران فوجيان نو هغه هيڅ څوک يې پكار نه شول.

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ، يعني خپل طاقت او زور يې دومره نه وو چه بدله يې اخستلے وے او دا په مقابله د زينت د ده كښ او د دے قول كښ چه علىٰ علم عندي۔

فائده:- او پدے واقعه كښ تنبيه ده قريشو ته او آل رسول ته چه دوی اګر چه د پيغمبر قوم دے او خپلوان دي ليكن د رسول د دين نه چه بغاوت كوي نو د قارون (چه قريب وو د موسىٰ عليه السلام وخت كښ) پشان به هلاك شي۔ اولياء، بزرګان چه دوی مددګاران ګڼړي هغوی سره مدد نشي كولے۔

لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۲﴾ تِلْكَ

نشی بچ کیدے کافران - هغه

الدَّارُ الْاٰخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ

کور روستنے (جنت) خاص کوؤ مونږ هغه چالره

لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا

چه نه غواړی لویئ په دنیا کښ او نه

فَسَادًا ؕ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿۸۳﴾

وراڼے کول او انجام (د خیر) دپاره د متقیانو دے۔

۸۲ - دا هم خوش قسمتی ده او احسان د الله تعالیٰ دے چه ډیو بدکار سړی د حال نه خوک عبرت واخلی او د الله تعالیٰ احسان او منی چه د دغه بد حال نه ئے مونږ بچ ساتلے یو۔

وَيْكَاَنَّ اللّٰهَ ، یعنی دوی پوهه شول چه د رزق فراخی او تنګسیا د الله تعالیٰ په مشیت او په اراده سره ده دا سبب د کرامت نه دے وَیْ لفظ د تعجب دے او کَ په معنیٰ د لام دے یعنی تعجب کوؤم د دے وجے نه او د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه وَیْكَاَنَّ په معنیٰ د (اَلَمْ تَرَ) دے۔

مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا ، مَنّ نه مراد توفیق د ایمان او اتباع د موسیٰ علیه السلام ده لکه چه سورة حجرات ۱۷ کښ دی۔

وَيْكَاَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكٰفِرُوْنَ ، دا قول د دغه کسانو دے یا قول د الله تعالیٰ دے۔

۸۳ دا تفریعات دی په واقعه د موسیٰ علیه السلام باندے - دا اوله تفریع ده په ۸۲ او ۸۳ باندے یعنی د دے قصّے د فرعون او قارون نه معلومه شوه چه دارالاٰخرة (جنت) صرف په تقویٰ سره حاصلیږی په علو تکبر او فساد سره که څوک حاصلیدے نو فرعون، هامان او قارون ته به حاصل شوے وے۔

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَيْرٌ مِّنْهَا ۚ

چاچه راتلل اوکړل په نیکۍ سره تو دهٔ لره غوره حال دے دَهغې دَوجې نه

وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى

او چاچه راتلل اوکړل په بدۍ سره نو بدله نشي ورکیدلے

الَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ اِلَّا مَا كَانُوْا

هغه کسانو ته چه عملونه ئے کړیدی ناکاره مګر دَ هغه عملونو چه

يَعْمَلُوْنَ ﴿۸۴﴾ اِنَّ الَّذِيْ فَرَضَ عَلَيْكَ

دوی کول . یقینًا هغه ذات چه فرض کړیدی په تا باندے رسول

الْقُرْاٰنَ لَرَآدُّكَ اِلٰى مَعَادٍ ؕ قُلْ

دَ قرآن خامخا واپس کوی به تا لره ځائے دَ واپسۍ ته . ته اووایه

رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى

رب زما ښهٔ پوهه دے په هغه چا باندے چه راتلل اوکړی په هدایت سره

وَمَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۸۵﴾

او په هغه چاچه هغهٔ وی په ګمراهۍ ښکاره کښې .

۸۴:۔ دا علت دے دَ مخکښې آیت دَ پاره او بیان دَ دے خبرے دے
چه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی یعنی تقوٰی حسنه ده او علو،
فساد سیئات دی دَ هر یو جزا دَ هغې مناسب ده۔
بِالسَّيِّئَةِ، مراد دَ دینه جنس سیئه ده دَ دے وجې نه روستو عَمِلُوا
السَّيِّاٰتِ جمع راوړے وه۔
۸۵:۔ په دے آیت کښې دوه تفریعات دی یو په ۸۴ باندے او بل
په ۸۳ باندے او دا خطاب نبی صلی الله علیه وسلم ته دَ پاره دَ تشجیع
په دعوت باندے او دَ دے آیت نه نبی ته اته خطابات شروع شول۔
مَعَادٍ، مراد دَ دینه مکه معظمه ده او په دیکښې پیشګوئی ده چه اے نبی

وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْٓا اَنْ يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ

او نه وې ته چه امید کوې تا ته د دې خبرې چه دربه کړېشي تا ته

الْكِتٰبُ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ فَلَا

کتاب مګر (درکړېشوې) موږ تا ته) د وجې د رحمت د رب ستا نه پس مه

تَكُوْنَنَّ ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۸۶﴾

کېږه هيڅکله امداد ي د کافرانو -

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ بَعْدَ

او وا نهړوي دوی تا لره د آياتونو د الله تعالیٰ نه روستو

اِذْ اُنْزِلَتْ اِلَيْكَ وَادْعُ اِلٰى رَبِّكَ

د هغې نه چه نازل کړې شوېدي تا ته او بلنه کوه رب خپل ته

ته به د دې کلي نه ويستلې کېږې او بيا به د فتح په صورت کښې ځې
ته واپس راځې لکه موسیٰ عليه السلام چه د مور نه جدا کړې شو او بيا
ئې مور ته واپس کړو او دا رنګ د مصر نه اُوتلو او بيا ورته واپس
راغې - يا د معاد نه مراد جنت دې -
قُلْ رَّبِّيْٓ، دا جواب دې د طعن کولو د کافرانو په نبي صلی الله
عليه وسلم باندې چه ته په ګمراهۍ کښې ئې -
۸۶:- په دې کښې هم دوه تفريع دي اوله په سک باندې او دويمه
په سکل باندې -
په اوله تفريع کښې اشاره ده چه نبوت په رحمت د الله تعالیٰ
سره حاصليږي هغه څه کسبي څيز نه دې -
او په دويمه تفريع کښې تشجيع ده نبي صلی الله عليه وسلم
ته او دا دليل دې چه د کافرانو سره هر قسم امداد کول
حرام دي -

وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ

او مه کیږه ته د مشرکانو د ډلے نه. او رامه د شه مه وایه

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ قف

سره د الله تعالیٰ نه بل چا ته چه اِلٰه یعنی کنړیے تښتیه مددګار. مګر هغه دے

كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ط لَهُ

هر څیز فنا کیږی مګر مخ د هغهٔ. خاص هغهٔ لره

الْحُكْمُ وَاِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾ ع

اختیار دے او خاص هغه ته به او ګرځولے شئ تاسو.

وقف لازم

ع ٩ ١٣ ١٢

۸۷:۔ دا تشجیع ده نبی صلی الله علیه وسلم ته چه کافران مشرکان تا ته دعوت د مداهنت درکوی او په قسم قسم دهوکو سره تا د قرآن د تبلیغ نه منع کوی لیکن د دوی خبره قبوله نه کړے. او په دے آیت کښ دوه نهی او یو امر نبی صلی الله علیه وسلم ته ذکر کوی.

۸۸:۔ دا هم خطاب د تشجیع دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او مقصد پدیکښ تشجیع ده په مخالفت کولو سره د مشرکانو د طریقے د عبادت نه. او دا پنځه کلمات د توحید دی. په اول کښ رد د شرک فی الدعا دے او په دویم کښ رد د شرک فی الالوهیة دے او په دریم کښ رد د شرک فی الصفات دے او په څلورم کښ رد د شرک فی الحکم دے او په پنځم کښ عقیده د بعث بعد الموت ده او هغه کښ توحید فی الحساب ته اشاره ده.

كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ، تحقیق د دے آیت دا دے چه كُلُّ شَيْءٍ کښ درے احتمالونه دی.

ع۱ اول موجودات، که ممکنات وی او که واجب وی نو شَيْءٍ په دے معنیٰ الله تعالیٰ ته هم شامل ده لکه سورة انعام ۱۹ کښ دی.

ع۲ دویم ممکنات او دا د شَيْءٍ مشهوره معنیٰ ده.

ع۳ دریم عملونه.

او هَالِكٌ کښې هم درې احتمالونه دي.
ع۱ فنا کیدونکې لکه سورة رحمٰن ۲۶ کښې دي.
ع۲ مَشِیُّ په اعتبار دَ ذات خپل، ځکه چه په وجود کښې الله تعالیٰ ته محتاج دي حاصل معنیٰ دَ دے محتاج او ممکن شو.
ع۳ هالك په معنیٰ دَ غیر مقبول او باطل ده.
او وَجْهَهٗ کښې درې احتمالونه دي.
ع۱ مخ دَ الله تعالیٰ په ظاهري معنیٰ سره دے او تشبیه او تمثیل ئې دَ مخلوق سره نشته او په کیفیت یا ندے ئې الله تعالیٰ ښه پوهه دے او هم دا عقیده دَ سلف صالحینو ده.
ع۲ مخ دَ الله تعالیٰ سره دَ ذات نه یعني ذات دَ الله تعالیٰ په طریقه دَ ذکر دَ یو جزء او اراده دَ کُل (او دا طریقه په ممکناتو کښې ده او موږ ذکر کړه په طریقه دَ نظیر سره).
ع۳ هغه عملونه چه دَ الله تعالیٰ دَ پاره او کړے شي.
بیا په دے کښې درې سوالونه دي.
اول سوال:- دا دے چه په دے جمله کښې استثناء متصل ده او که منقطع ده؟
جواب:- دا دے چه استثناء متصل ده ځکه چه دَ شَیْءٌ اطلاق په الله تعالیٰ باندے صحیح دے لکه چه تیر شول. یا دَ دے وجے نه چه كُلُّ شَیْءٍ نه مراد اعمال شي. او وَجْهَهٗ نه هم مراد عمل وي دَ پاره دَ الله تعالیٰ، نو په دے دواړو صورتونو کښې مستثنیٰ داخل ده په مستثنیٰ مِنْهُ کښې نو متصله ده.
دویم سوال:- دا دے چه هَالِكٌ په معنیٰ دَ فاني دے یعني هر ممکن په فنا کیږي نو معلومه شوه چه جنت او جهنم او ارواح وغیره به هم فنا کیږي؟
اول جواب:- دا دے چه كُلُّ شَیْءٍ اګر چه عام دے لیکن په وجه دَ نورو نصوصو سره دَ هغې نه اته څیزونه خاص کړے شوي دي ځکه دا څیزونه دَ فنا دَ پاره نه دي پیدا کړي چه هغه مفسر سیوطي او نورو مفسرینو ذکر کړي دي، او هغه په دے شعر کښې وائي.

شَمَانِیَةٌ حُکْمُ الْبَقَاءِ یَعُمُّهَا
مِنَ الْخَلْقِ وَالْبَاقُوْنَ فِی حَیِّزِ الْعَدَمِ
هِیَ الْعَرْشُ وَالْکُرْسِیُّ وَنَارٌ وَّجَنَّةٌ
وَعَجْبٌ وَ اَرْوَاحٌ کَذَا اللَّوْحُ وَالْقَلَمُ

(عجب په معنیٰ دَ ملا دَ هډوکے دے لکه لیے ورته وئیلے شی)
دویم جواب:- دا دے چه کُلُّ شَیْءٍ کښې استغراق حقیقی مراد نه دے بلکه استغراق عرفی مراد دے یعنی هر هغه شے چه پیدا کړے شوی دے دَ پاره دَ فنا کیدلو۔
دریم سوال:- دا دے چه وَجْهَهٗ مخ ته وئیلے کیږی نو معلومه شوه چه دَ مخ نه علاوه ید، عین، ساق وغیره صفتونه دَ الله تعالیٰ په کُلُّ شَیْءٍ کښې داخل شول نو هغه په حکم دَ هَالِكٌ کښې داخل شول او دا خو محال ده؟
اول جواب:- دا دے چه مخ ذکر شو او مراد ترینه ټول ذات دے لکه چه مخکښې تیر شول نو ید، عین وغیره هم په حکم دَ وَجْهَهٗ کښې داخل دی۔
دویم جواب:- دا دے چه په دے کښې حصر حقیقی نه دے مراد بلکه حصر اضافی مراد دے یعنی په ذکر دَ وَجْهَهٗ سره دَ ید او عین وغیره نه احتراز کول مراد نه دی بلکه حصر دَ هلاکت په ممکناتو کښې مراد دے۔
نو دَ دے جملے درے معانے دی۔
اوله معنیٰ هر څیز په خپل وجود کښې محتاج او معدوم دے سوا دَ مخ یا دَ ذات دَ الله تعالیٰ نه۔
دویمه معنیٰ هر څیز چه فنا دَ پاره پیدا کړے شوے دے نو هغه به فنا کیږی سوا دَ مخ او دَ ذات دَ الله تعالیٰ نه۔
دریمه معنیٰ هر عمل باطل برباد دے سوا دَ هغه عمل نه چه دَ الله تعالیٰ دَ پاره اوکړے شی۔
دا روستنۍ معنیٰ امام بخاری غوره کړیده اګر چه دَ نورو محققینو

مفسرینو په نیز باندے غوره نه ده.
تنبیه:- په اوله معنیٰ باندے بعضے متصوفو دَ وحدت الوجود دَ پاره استدلال کړے دے او اطلاق دَ وحدت الوجود ئے پرے کړے دے لیکن دا باطل او فاسد قول دے ځکه چه کومه معنیٰ دَ وحدت الوجود چه دَ عامو متصوفو په نیز مراد ده چه دَ هغے رجوع حلول ته ده، هغه خو کفر دے او که بعضے صوفیان دا معنیٰ کوی چه وجود حقیقی صرف وجود دَ الله تعالیٰ دے او دَ باقی موجوداتو وجود حقیقی نه دے هغه وجود ته اعتبار نشته نو معلومه شوه چه وجود خو صرف دَ الله تعالیٰ دے نو دا اګرچه صحیح ده لیکن پدے باندے دَ وحدت الوجود (چه باطله اصلاح ده او موهم لفظ دے) اطلاق کول ناجائز دی.

تم تفسیر سورة القصص بفضله تعالیٰ وکرمه

سورة العنکبوت مکیة | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰیاتها ۶۹ رکوعاتها ۷

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړم په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

الٓمّٓ ﴿۱﴾ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا

الف. لام. میم. آیا گمان کوی خلق چه پریدے به خوشے شی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة العنکبوت

ربط:- د دے د سورة القصص سره په یو څو وجوهو سره دے.
اول وجه دا چه سورة القصص کښې تشجیع وه مؤمنانو ته په واقعه د موسیٰ علیه السلام سره نو پدے سورت کښې تشجیع ذکر کوی په واقعاتو د نوح او ابراهیم او لوط او شعیب علیهم السلام سره.
دویمه وجه دا چه هغه سورت کښې تشجیع وه په مصیبتونو راتللو سره اجمالاً نو پدے سورت کښې تفصیل د هغې مصیبتونو دے.
دریمه وجه په هغه سورت کښې عقلی دلیلونه وو په مسئله د توحید باندے د پاره د اثبات د هغې نو پدے سورت کښې مثال ذکر کوی د پاره د وضاحت د مسئلے.
دعویٰ:- د دے سورت. د دے دوه دعوے دی.
اوله دعویٰ تشجیع ده په مصیبتونو او محنتونو تیرولو سره په دعوت د توحید کښې او دا په ټول کښې ده.
دویمه دعویٰ عدم نجات د مخالفینو دے د عذاب نه په دنیا او آخرت کښې او دا په ټول کښې ده. او دعویٰ د توحید د سورت په مینځ کښې په طریقه د مثال سره ده.
خلاصه:- د دے سورت دا ده چه دا تقسیم دے څلورو بابونو ته.
اول باب ترسلا پورے دے پدے باب کښې دواړه دعوے ذکر کړے دی او روستو د هغې نه څلور ابتلاءات ذکر کوی.

أَن يَقُولُوٓا ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ②

دَ دے وجے نه چه وائی دوی ایمان راوړیے مونږ او حال دا چه په دوی باندے ازمېښت نشی کیدے ۔

وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ

او یقینًا ازمېښت کړیدے مونږ په هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وو

فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُوا

نو خامخا ښکاره کوی به الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه رښتیا وائی

وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ③ أَمۡ حَسِبَ

او خامخا ښکاره کوی به دروغژنو لره ۔ آیا ګمان کوی

اوّل پوره مجاهده کول په ۱۳ کښ. دویم دعوت دَ والدینو شرک ته په ۸ کښ. دریم اذیت دَ عامو خلقو دَ طرف نه په ۱۰ کښ. څلورم دعوت دَ مکذبینو من اهینو شرک ته او توحید پریښودلو ته په ۱۲ کښ.

تفسیر:- ۱ :- دا دَ مقطعاتو نه دے دَ دے تفصیل تیر شوے دے.

۲ :- دا اوله دعوٰی دَ سورت ده یعنی صرف ایمان (اګرچه په اخلاص سره وی) دَ جهنم نه دَ بچ کیدلو دَ پاره کافی نه دے بلکه دَ دعوے دَ ایمان سره تکلیفونه او مصیبتونه ضرور راځی.

أَن يُتۡرَكُوٓا ، دلته عبارت کښ تقدیر دے یعنی مِنَ الۡإِفۡتِتَانِ (دَ ابتلاء نه) او وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ دَ هغے تفصیل دے.

وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ، فتنه او امتحان په دوه قسمه سره دے او تکلیف تکوینیه یعنی مخالفت دَ خلقو او دَ هغوی دَ طرف نه کنځل ، غلط فتوے لګول ، وژل او مرضونه وغیره راتلل. دویم تکالیف شرعیه ، عبادات ، هجرت ، جهاد وغیره دواړه قسمونه دَ ایمان سره لازم دی.

۳ :- دا تسلی ده مؤمنانو ته او په دے کښ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ آه حکمت دَ امتحاناتو دے یعنی فرق دَ رښتینو او دروغژنو.

الَّذِیۡنَ یَعۡمَلُوۡنَ السَّیِّاٰتِ اَنۡ یَّسۡبِقُوۡنَا

هغه کسان چه عملونه کوي ناکاره چه بچ به شي دوی د عذاب زمونږنه،

سَآءَ مَا یَحۡکُمُوۡنَ ﴿۴﴾ مَنۡ کَانَ یَرۡجُوۡا

بده ده هغه فیصله چه دوی یې کوي. هغه څوک چه عقیده لري

لِقَآءَ اللّٰهِ فَاِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ لَاٰتٍ ؕ

د پیښې الله تعالی ته نو یقیناً نیټه د الله تعالی خامخا راتلونکې ده،

وَهُوَ السَّمِیۡعُ الۡعَلِیۡمُ ﴿۵﴾ وَمَنۡ جَاهَدَ

او هغه هرڅه آوري او په هرڅه پوهه دے. او چا چه ځان او کړو ډ

الَّذِیۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ، د دینه مراد انبیاء علیهم السلام او مؤمنان مخکښې دي. او خاص کر واقعه د موسی علیه السلام چه مخکښې سورت کښې ذکر شوے ده.

۴:. په دے آیت کښې دویمه دعوی د سورت ده یعنی کوم خلق چه شرک او کفر کوي او د حق پرستو مخالفت کوي او هغوئ له مکرونه جوړ وي ردے تولوته سیاٰت وئیلے شي) نو هغوی د عذاب د الله تعالی نه بچ کیدلے نشي. او په یکښې تخویف د مکذبینو ته اشاره ده.

۵:. دا متعلق دے د اولے دعوے سره په طریقه د ترغیب سره یعنی څوک چه د ملاقات د الله تعالی نه ویره کوي یا عقیده د هغے لري. رپس تیاري دے د هغے د پاره او کړي په مصیبتونو تیرولو سره) یَرۡجُوۡا لِقَآءَ اللّٰهِ، مراد د دے نه رویت ردیدار) د الله تعالی دے په جنت کښې او دا ظاهره معنی ده یا د لقاء نه مراد دوباره ژوندی کیدل دي یَرۡجُوۡا په معنی د یعتقد سره دے او د من کان جزاء محذوفه ده یعنی فلیصبر علی البلایا رصبر دِ اوکړي په مصیبتونو باندے).

فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهٖ ۭ إِنَّ اللّٰهَ

پس یقینًا کہاؤ کوی دپارہ د فائدے خپلے ، یقینًا اللہ تعالیٰ

لَغَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝۶ وَالَّذِيْنَ

خامخا بے پروا دے د تمام خلقو نه . او هغه کسان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ

چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی برابر د سنت سره خامخا او به ړنړوو مونږ

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ

د دوی نه گناهونه د دوی او خامخا بدله به ورکړو مونږ دوی ته

اَحْسَنَ الَّذِيْ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۷

ډیره ښائسته بدله د هغه عملونو چه دوی کول .

ـــ:- دا اول قسم د افتتان (امتحان) دے یعنی ځان کړول په ډیر محنت کولو سره دپاره د دعوت د ایمان او توحید دا مجاهدے بدنی او مالی دواړو ته شامل ده . او فایده د دے کړاؤ د د چه شخص دپاره ده ځکه الله تعالیٰ هغے ته محتاج نه دے.

ـــ:- دا بشارت اخروی دے او بیان د لِنَفْسِهٖ دے . او په دے آیت کښ د عمل صالح نه دغه افتتان (امتحان) مراد دے . او لَنُكَفِّرَنَّ اشاره ده چه د جهنم نه به بچ وی . ځکه چه تکفیر د سیاٰتو سبب دے دپاره د حفاظت د سزا نه . او وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ کښ اشاره ده چه جنت به حاصل کړی.

اَحْسَنَ الَّذِيْ ، په معنیٰ د هغه عمل دے چه بنا وی په اخلاص د اتباع سنت باندے او دا په مقابل د حسن کښ نه دے یا احسن نه مراد درجه د عزیمت ده او حسن نه مراد درجه د رخصت ده او جزاء نه مراد پوره جزاء ده .

وَ وَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ

او کلک حکم کړیدے موږ انسان ته دَ مور او پلار سره

حُسْنًا ؕ وَ اِنْ جَاهَدٰكَ لِتُشْرِكَ

دَ ښۀ کولو، او که چرے دوی زور چلوی په تا باندے دَپاره دَدے چه شریک جوړ کړے

بِيْ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ فَلَا

ته ما سره هغه څوک چه نشته تا لره دَ هغوی په شرکت باندے هیڅ دلیل نو خبره مه

تُطِعْهُمَا ؕ اِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَاُنَبِّئُكُمْ

منه دَدے دواړو، ما ته پیښی ستا سو ده نو خبر به درکوؤم تاسو ته

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۞ ۸ وَ الَّذِيْنَ

په هغه عملونو چه تاسو یې کوئ۔ او هغه کسان

اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ

چه ایمان یې راوړے دے او عملونه یې کړیدی برابر دَ سنت سره خامخا داخل به کړو موږ دوی

فِي الصّٰلِحِيْنَ ۞ ۹ وَ مِنَ النَّاسِ

په ډله دَ نیکانو کاملانو کښ۔ او بعضے دَ خلقو نه

۸:۔ دا دویم قسم افتتان دے یعنی کله به مور او پلار دعوت ورکوی اولاد مؤحدینو ته دَ شرک کولو او ډیره سختی به ورسره کوی دَ کورنه به یې شړی، دَ عاق حکم به پرے کوی دَپاره دَدے چه دَ توحید نه منع شی. لیکن په یکښ دَ هغوی طاعت کول جائز نه دی دا هم لوے امتحان دے۔ او دا سے په سورة لقمان ۱۵ کښ هم دی او هلته به فرق ذکر شی۔

۹:۔ دا بشارت متعلق دے دَ دویم افتتان سره چه په دغه امتحان کښ کامیاب شی نو دَ صالحینو جماعت کښ به داخل شی په دُنیا او برزخ او آخرت کښ۔ او صّالِحِيْنَ یې دَ دے وجے نه ذکر کړو

مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ فَاِذَآ اُوْذِيَ

هغه څوک دي چه وائي ايمان راوړی مونږ په الله تعالیٰ بيا نو هر کله چه بد ورته اوشي

فِي اللّٰهِ جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ

په لاره د الله تعالیٰ کښ او ګرځوي فتنه د خلقو

كَعَذَابِ اللّٰهِ ۭ وَلَىِٕنْ جَاۗءَ نَصْرٌ

پشان د عذاب د الله تعالیٰ، او که چرے راشي مدد

مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ۭ

د طرف د رب ستا نه خامخا وائي دوي يقيناً مونږ ستا ملګري يو ،

اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ

او آيا نه دے الله تعالیٰ ښه خبر لرونکے په هغه خبرو چه په

صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ⑩ وَلَيَعْلَمَنَّ

سينو د خلقو کښ دي - او خامخا به ښکاره کوي

چه ناپوهه خلق داسے شخص نه رچه د مور او پلار اطاعت په شرک کښ نه کوي) نافرمان او مفسد وائي نو الله تعالیٰ ورته صالح اووئيل.

نك :- دا دريم افتتان دے يعني د ايمان او د دعوت د حق د وجے نه خلق مخالف شي نو بعضے انسان منافقت شروع کړي ليکن مؤمن لره د داسے منافقت نه بچ کيدل پکار دي.

فِتْنَةَ النَّاسِ، يعني د خلقو د مخالفت د ويرے نه حق خبره پريږدي. څه رنګه چه د عذاب د الله تعالیٰ نه ويره پکار ده او حق بيانول ضروري دي نو داسے دوي د خلقو د مخالفت کولو او ايذاء نه ويره کوي او د حق بيان پريږدي.

نَصْرٌ، غلبه، مالونه، عزت حاصل شي په سبب د منکر تيا د مؤمنانو سره - او داسے په سورة حج ملا کښ هم دي -

اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ

اللہ تعالیٰ هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او خامخا به ښکاره کوی

الْمُنٰفِقِيْنَ ⑪ وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

منافقانو لره۔ او وائی هغه کسان چه کفر ئے کړیدے

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا

هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړیدے تابعداری اوکړئ د لارے زمونږ

وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ وَمَا هُمْ بِحٰمِلِيْنَ

او پورته به کړو ګناهونه ستاسو، او نه دی دوی پورته کوونکی

مِنْ خَطٰيٰهُمْ مِّنْ شَيْءٍ ؕ اِنَّهُمْ

د ګناهونو د هغوی نه هیڅ شئے، یقیناً دوی

لَكٰذِبُوْنَ ⑫ وَلَيَحْمِلُنَّ اَثْقَالَهُمْ

خامخا دروغژن دی۔ او خامخا به پورته کوی دوی پیټی خپل

اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ، دا زجر دے په حال د دغه منافقانو باندے یعنی څوک اٰمَنَّا وائی د رضا د اللہ تعالیٰ او څوک د پاره د حصول د دنیوی فائدو د وارونیتونو باندے اللہ تعالیٰ ښهٔ پوهه دے۔

سلا:- دا نتیجه د دغه مخکښ ابتلاء ده یعنی چه څوک په وخت د اذیت او مخالفت د خلقو کښ په حق باندے ټینګ شونو هغه صحیح مؤمن دے۔ په دے کښ د عامو ابتلاګانو نتیجه ده چه په هغے سره صدق او کذب معلومیږی او په دے آیت کښ د اٰمَنَّا سره متعلق ابتلاء ده نو هغه سبب د معرفت د اخلاص او د منافقت دے۔

سلا:- دا څلورم امتحان دے یعنی کافران مشرکان په شرک ته دعوت ورکوی او د حق پېتولو ترغیب به ورکوی او وائی به چه د دے آزار ګناه زمونږ په غاړه دی۔

وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ۖ وَلَيُسْأَلُنَّ

او پیټې د ګمراه کولو سره د پیټو خپلو نه او خامخا به تپوس کیږي ښې د دوی نه

يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣﴾ ع ۱۳

په ورځ د قیامت د هغه چه دوی ځنې دروغ جوړول.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ

او یقینًا لیږلے وو مونږ نوح علیه السلام قوم د هغه ته

فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ

نو حصار شو په هغوی کښې زر کلونه مګر پنځوس

عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ

کاله، پس اونیوو دوی لره طوفان او دوی

ظَالِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَصْحَابَ

ظلم کوونکے وو. پس بچ کړو مونږ دے او هغه خلق چه په

زمخشري او خطیب شربیني وئیلې دي چه دا سې حالات نن په مسلمانانو کښې هم شروع شوي دي د حق پټولو او د ګناه کولو دعوت ورکوي او ورته وائي چه آزار ګناه ئې زما په غاړه ده.
وَلْنَحْمِلْ خَطَايَاكُمْ، دا په معنیٰ د شرط کښې دے إِنْ تَتَّبِعُوا سَبِيلَنَا یعنې که تاسو زمونږ په لار شوئ نو مونږ به ستاسو د ګناهونو ذمه وار شو. نو د هغې رد ئې په دوو طریقو سره اوکړو. اول وَمَا هُم بِحَامِلِينَ لکه چه لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ په سورة فاطر ۱۸ سورة نجم ۳۸ کښې.
او دویم إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ.
۱۳. دا رد دے د هغوی د قول په دریمه طریقه سره او تخویف اخروي دے. أَثْقَالَهُمْ، د دینه مراد د دوی خپل ذاتي ګناهونه د کفر او شرک او حق پټولو دي. وَأَثْقَالًا، د دینه مراد هغه ګناهونه دي چه د دعوت د ګمراهئ په سبب سړي پرې بار کیږي لکه سورة نحل ۲۵ کښې دي.
۱۴. خلاصه :- د دے آیت نه تر ۴۰ پورے دویم باب دے په یکښ

السَّفِيْنَةِ وَجَعَلْنٰهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ⑮

کشتئ کښې د (کشتئ والا) او وګرځوله مونږ دا قصّه عبرت د پاره د ټولو خلقو۔

څلور انواع د ابتلاء اتو د انبیاء علیهم السلام ذکر کوی د پاره د تشجیع۔
اوله ابتلاء په اوږد عمر سره په دعوت او تبلیغ کښې سره د لګو ملګرو نه لکه واقعه د نوح علیه السلام۔
دویمه ابتلاء دعوت د توحید تفصیلاً او مخالفت د قوم او اور نه غورځول لکه واقعه د ابراهیم علیه السلام۔
دریمه ابتلاء د استهزاء د قوم او مطالبه د عذاب د هغوی لکه واقعه د لوط علیه السلام۔
څلورمه ابتلاء تکذیب د قوم او مسخرے کول لکه واقعه د شعیب علیه السلام۔
بیا ذکر د څلورو قومونو او عذاب په هغوی باندے په څلورو طریقو سره او دا تعلق لری د دویمے دعوے د سورت سره۔
تفسیر:- په دے آیت ۱۴ کښې واقعه د نوح علیه السلام په اختصار سره ذکر کوی او مقصود پکښې بیان د ابتلاء دے په اوږد عمر تیرولو سره د مصیبتونو نه په دعوت او تبلیغ کښې۔ د دے وجے نه په دے آیت کښې ئے د نوح علیه السلام عمر د هغه په قوم کښې ذکر کړے دے یعنی چه هغه په خپل قوم کښې څومره عمر تیر کړے وو سره د مصیبتونو او دا پل سورت کښې نشته نو دا د اولے دعوے سره تعلق لری او عذاب د قوم د هغه ئے ذکر کړے دے دا د دویمے دعوے سره تعلق لری۔
فائده:- تسعمائة سنة وخمسین ئے نه دی وئیلے د یو څو وجو نه۔
یو وجه دا ده چه دا عبارت مختصر دے د دغه عبارت نه۔
دویمه وجه دا ده چه دا عظمتِ شان د دے ابتلاء دے چه اول ئے غټ عدد ذکر کړو نو بیا ئے تر دینه استثناء اوکړله۔
دریمه وجه دا ده چه په دے عبارت کښې پوره مقصد ادا کول دی ځکه چه لفظ د سنة په تکلیف باندے دلالت کوی او لفظ د عامًا په فراخئ باندے دلالت کوی یعنی د برکاوته په تکلیف کښې تیر شول او نحوس کلونه په فراخئ کښې تیر شول۔
۱۵:- په دے آیت کښې تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه

وَاِبْرٰهِيْمَ اِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ اعْبُدُوا

او ليږلے وو مونږ ابراهيم عليه السلام کله چه او وئيل هغه قوم خپل ته بندګي خاص کوئ

اللّٰهَ وَاتَّقُوْهُ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ

د الله تعالیٰ او ووېرېږئ د هغه نه، دا به غوره وي تاسو لره

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِنَّمَا تَعْبُدُوْنَ

که چرے تاسو پوهېږئ - يقيناً بندګي کوئ تاسو

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا وَّتَخْلُقُوْنَ

سِوا د الله تعالیٰ نه د شکلونو جوړوشوو او جوړوئ تاسو

اِفْكًا ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ تَعْبُدُوْنَ

دروغ قصے، يقيناً هغه کسان چه بندګي کوئ تاسو

تابعدارانو ته په نجات او سلامتيا سره -

اَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ، تفسير سراج المنير مرفوع روايت بلا سند سره راوړے دے چه دوی سره د نوح عليه السلام نه اووه کسان وو - سَفِيْنَةِ هغه کشتئ چه په اوبو کښ روانه وي -

اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ، يعنی دا واقعه عبرت دے ټولو خلقو لره - يا دغه کشتئ نخه د عبرت ده په اعتبار د مثل د هغه کشتئ سره لکه سورة يٰس ۳۲ کښ دي -

۱۶:- دا واقعه د ابراهيم عليه السلام ده د بيان د دويم قسم ابتلاء د پاره چه هغه اور ته غورځول او د ملک نه هجرت کول دي د وجے د دعوت د توحيد نه - پدے آيت کښ بيان د توحيد دے او منع ده د شرک نه سره د بيان د فائدے د هغے نه اجمالاً په لفظ د خَيْرٌ سره چه هغه خير دنيوی اخروی دواړو ته شامل دے -

اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ کښ اشاره ده چه د خير او شر د تميز د پاره علم شرط دے -

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَا يَمْلِكُوْنَ لَكُمْ

(دَ هغوی) سِوا دَ الله تعالیٰ نه وس نه لری تاسو لره

رِزْقًا فَابْتَغُوْا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ

دَ روزئ نو او لټوئ دَ الله تعالیٰ سره روزی

وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ

او بندګی خاص کړئ دَ هغه او شکر کوئ دَ هغه، او خاص هغه ته به

تُرْجَعُوْنَ ⑰ وَاِنْ تُكَذِّبُوْا

او ګرځولے شئ۔ او که چرے تاسو دروغژن کوئ ما لره

فَقَدْ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ

نو یقیناً دروغژن کړے وو ډیر امتونو مخکښ ستاسو له (رسولانو لره)،

مګلا :- په دے آیت کښ رد دے په شرک باندے په درے طریقو سره او درے اوامر دی دَ پاره دَ توحید۔

اَوْثَانًا ،یعنی دا جوړ کړے شوے اله دی نو دوی حقدار دَ بندګئ نشی کیدلے۔ ځکه چه وَمِنْ هر هغه څیز دے چه جوړ کړے شی او بندګی دَ هغے کیدلے شی که بت وی او که قبر وی صلیب وغیره باندے اطلاق کیدلے شی۔

اِفْكًا .یعنی دَ دوی دَ معبودیت دَ پاره تاسو دروغ قصّے جوړے کړے دی۔

رِزْقًا ،یعنی لوے حاجت دَ انسانی حاجتونو نه رزق دے او هیڅ معبود مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ دَ هیڅ قسم رزق اختیار نه لری او دَ اخری دریو اوامرو مطلب دا دے چه سبب دَ رزق او دَ ترقئ دَ هغے دَ الله تعالیٰ بندګی ده په توحید سره او دَ هغه شکر ادا کول دی۔ او ورسره عقیده دَ آخرت ده۔

فائده :- اول رِزْقًا نکره او دویم الرِّزْقَ معرفه ذکر کړے ده ځکه چه نکره په سیاق دَ نفی کښ عموم فائده کوی یعنی ستاسو

وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾

او نشته په رسول باندے مگر رسول ښکاره دی۔

اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ

آیا او دوی نه گوری چه څرنګه اول پیدا ئش کوی الله تعالیٰ د مخلوق

اِلَيْهِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ دَ هیڅ قسم رزق طاقت نه لری او معرفه د پاره دکمال ده یعنی دَ الله تعالیٰ سره پوره رزق دے۔

سلا دَ دے آیت نه تر ۲۳ پورے په یکښ دوه احتمالونه دی۔
اول دا چه دا داخل دے په واقعه دَ ابراهیم علیه السلام کښ څه په طریقه دَ خطاب او څه په طریقه دَ غائب سره التفاتًا او څه په طریقه دَ حکایت کولو سره دَ قول دَ الله تعالیٰ نه او دا قول ابن کثیر غوره کړے دے۔
دویم احتمال دا دے چه دا آیا تونه په مینځ دَ واقعه دَ ابراهیم علیه السلام کښ په طریقه دَ جملے معترضے سره دی او حال د دے امت دَ منکرینو دے او دا قول ابن جریر غوره کړے دے۔
وَاِنْ تُكَذِّبُوْا ، بناء په اول احتمال سره دا قول دَ ابراهیم علیه السلام دے یعنی هغه اُوئیل وَاِنْ تُكَذِّبُوْنِیْ او دَ دے جزاء پټه ده چه فَلَا يَضُرُّنِى التَّبْلِيْغَ . لیکن په دے توجیه باندے دا اعتراض دے چه دَ ابراهیم علیه السلام نه مخکښ ډیر امتونه مکذبه نه دی تیر شوی او دلته ئے جمع وئیلے ده اُمَمٌ ؟
جواب دا دے چه قوم نوح او عاد او ثمود وغیره قومونه تیر شوی دی۔ او بنا په دویم احتمال سره دا خطاب دَ الله تعالیٰ دے موجوده مکذبینو ته په طریقه دَ زجر سره۔

ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

بیا به دوباره پیدا کوی هغهٔ، یقینًا دا کار په الله تعالی باندے

يَسِيْرٌ ﴿۱۹﴾ قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ

آسان دے۔ اُووایه اوګرځئ په زمکه کښې

فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ ثُمَّ

پس اوګورئ چه څه رنګه شروع کړیدے الله تعالی پیدائش بیا به

اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ

الله تعالی پیدائش کوی پیدائش روستنے،

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۲۰﴾

یقینًا الله تعالی په هر څیز باندے قادر دے۔

س۱۹:۔ په دے آیت کښې اثبات د بعث بعد الموت دے روستو د
اثبات د توحید او د رسالت نه۔
اَوَلَمْ يَرَوْا، مراد د دینه علم دے او کیفیت د پیدائش د انسان
هر ذی عقل ته معلوم دے اګرچه په سترګو نه بنکاریږی۔
ذٰلِكَ اشاره ده مجموعه د اول او دوئیم پیدائش ته یعنی دا دواړه
کارونه په الله تعالی باندے آسان دی۔
س۲۰:۔ په یکښې اثبات د بعث بعد الموت دے په نظر کولو سره
په نورو مخلوقاتو کښې او تیرشوی آیت کښې دلیل وؤ په فکر
کولو سره په خپل پیدائش کښې یعنی هغه دلیل نفسی وؤ او دا دلیل
آفاقی دے۔
بَدَاَ الْخَلْقَ، یعنی اول پیدائش د حیواناتو، نباتاتو، اونو،
بوټو وغیره۔
فائده:۔ اول آیت کښې يُبْدِئُ فعل مستقبل ذکر دے او په دے
آیت کښې بَدَاَ فعل ماضی ذکر کړیدے ځکه انسان د هغه انسانانو
په پیدائش کښې فکر کولے شی چه د ده نه روستو مستقبل کښې پیدا

يُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ وَيَرْحَمُ

عذاب به ورکوی هغه چاته چه اوغواړی او رحم به کوی په هغه چا باندے

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاِلَيْهِ تُقْلَبُوْنَ ﴿٢١﴾

چه اوغواړی او خاص هغه ته به اوګرځولے شی تاسو۔

وَمَآ اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ فِى الْاَرْضِ

او نه یئ تاسو عاجز کوونکی (الله تعالیٰ لره) په زمکه کښ

وَلَا فِى السَّمَآءِ ۖ وَمَا لَكُمْ مِّنْ

او نه په آسمان کښ او نشته تاسو لره سوا

دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿٢٢﴾ ع ۲ / ۱۴

د الله تعالیٰ نه هیڅ بچ کوونکے او نه مددګار۔

کیږی او هرچه نور اشیاء دی نو په هغے کښ خو په مخکښ پیں اکړ پیشوے خیزونو باندے هم نظر کولے شی۔

ملا :- داتتیجه ده د ماقبل بیان د پاره او تخویف او ترغیب دے ۔او هر کله چه ماقبل کښ د کافرانو ذکر شوے کړے شوے دے د دے وجے نه عذاب ئے اول ذکر کړو۔ او مَنْ يَّشَآءُ مکرر راوړلو کښ اشاره ده چه په الله تعالیٰ باندے هیڅ قسم اعتراض څوک نشی کولے۔

تُقْلَبُوْنَ ، قلب ګرځیدل دی داسے حالت ته چه د اول حال نه بدل وی او قیامت هم داسے دے۔

ملا :- داعلت د ماقبل دے یعنی عذاب د دے وجے نه ورکولے شی چه الله تعالیٰ سره څوک مقابله نشی کولے۔

وَلَا فِى السَّمَآءِ، په دے کښ تقدیر د عبارت دے لَوْ كُنْتُمْ فِيْهَا (یعنی که بالفرض تاسو آسمان ته لاړ شئ) یا وَمَآ اَنْتُمْ خطاب عام دے آسمانی ملائک هم پکښ داخل دی۔

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَلِقَائِهِ

او هغه کسان چه کفر ئې کړے دے په آیاتو نو د الله تعالیٰ او په ملاقات دهغه باندے

أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِن رَّحْمَتِي وَأُولَٰئِكَ

دغه کسان نا امیده دی د رحمت زما نه او دغه کسان

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾ فَمَا كَانَ

دوی لره عذاب دردناک دے. نو نه وُ

جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا

جواب د قوم د هغه مګر دا چه دوی وئیل

اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَاهُ

اُوژنئ ده لره یا اوسیزئ ده لره نو بچ کړو ده لره

اللَّهُ مِنَ النَّارِ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ

الله تعالیٰ د اُور نه یقینًا په دیکښ ډیر عبرتونه دی

لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا

د پاره د هغه قوم چه ایمان راوړی. او اوئیل ابراهیم علیه السلام یقینًا

۲۳:۔ دا هم داخل دے په تخویف کښ. هر کله چه مخکښ توحید او بعث بعد الموت ذکر کړو نو په دے آیت کښ ئې منکرینو د توحید (په آیت الله) او منکرینو د بعث په (لِقَائِهِ) ته تخویف شدید ذکر کړو ځکه چه يَئِسُوا سره اشاره ده د جنت نه محروم کیدل. عَذَابٌ أَلِيمٌ کښ اشاره ده دخول د جهنم ته

۲۴:۔ په دیکښ اشاره ده عناد او تکبر د دغه قوم ته چه هغوی سره هیڅ جواب نه وُ بیکار دا وه چه چپ شوی وے لیکن دوی د تکبر د وجے نه غیر جواب لره جواب اوګنړلو د دے وجے اُوئیلے شو جَوَابَ قَوْمِهِ.

اقْتُلُوهُ، په دیکښ اشاره ده قول د پلار د ابراهیم علیه السلام ته چه هغه

اتَّخَذْتُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ اَوْثَانًا ۙ

جوړ کړي دي تاسو سوا د الله تعالیٰ نه معبودان (په طاعت کښې)

مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

د پاره د دوستانې په مینځ ستاسو کښې په ژوند د نیوی کښې

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُمْ

بیا په ورځ د قیامت به انکار اوکړي بعضې ستاسو

بِبَعْضٍ وَّيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۡ

د بعضو نه او لعنت به اوکړي بعضې ستاسو په بعضو باندې

وَّمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ

او ستاسو ځاے اور دے او نشته تاسو لره هیڅوک

نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ ۘ

مددګاران۔ نو ایمان تسکاره کړو هغه ته لوط علیه السلام

په سورة مریم کښې ذکر دی۔

اَوْحَرِّقُوْهُ، قول وو د قوم د هغه لکه سورة انبیاء ۶۸ کښې دی۔

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ، ډیر دلیلونه او عبرتونه دی بعضې د هغې ته دا دی۔ ۱ کامل قدرت او تصرف د الله تعالیٰ ۲ د اور نه اثر د سوځولو ختمول ۳ خاشاک لره سوځول او ابراهیم علیه السلام ته سیزل ۴ موحدینو لره تسلی د نجات وغیره۔

۲۵:۔ دا لوے شجاعت د ابراهیم علیه السلام دے چه روستو د بیچ کیدلو د اور نه ئے صاف توحید بیان کړو د دے د پاره چه څوک او نه وائي چه ابراهیم علیه السلام اویرېدو او دعوت د توحید ئے پریخودلو۔

په ۱۷ کښې رد وو په شرک بالعباد الصالحین باندے او په دے آیت کښې رد دے په شرک بالعباد المفسدین باندے یعنی رد دے په

وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّي ط

او وُئیل هغهٔ یقینًا هجرت کوونکے یم طرف دَ خپل رب ته،

إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٦﴾

یقینًا هغهٔ زورآور حکمتونو والا دے۔

وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ

او بخشش ورکړو مونږ دهٔ ته اسحاق او یعقوب

شرک فی التحلیل والتحریم بالندے چه هغه تقلیں دَ نا کاره ملایانو او پیرانو وغیره دے۔

مَوَدَّةَ بَيْنِكُمْ، یعنی دَ وجے دَ تعلق دَ پیرئ مریدئ او استاذئ او شاګردئ او مقلد او مقلِد او تابع و متبوع وغیره۔

وَيَلْعَنُ بَعْضُكُمْ بَعْضًا، دا سے په سورة اعراف ۳۸ کښں هم ذکر شوی دی او دا رنګ په آیاتونو دَ براءت په مینځ دَ عابدانو معبودانو کښں بیان شوی دی لکه سورة بقرة، سورة ابراهیم، سورة احزاب، سورة سبا، سورة صافات، سورة ص، حم مؤمن وغیره کښں۔

۲۶:- روستو دَ ابتلاء بالنار نه دویمه ابتلاء دَ ابراهیم علیه السلام هجرت کول دی چه هجرت ئے اوکړو دَ سوا دالکوفه نه حران ته او بیا ارض مقدسے ته او ورسره لوط علیه السلام او ساره رضی الله عنها وه

فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ، دَ ابراهیم علیه السلام ورارهٔ وؤ ایمان ئے ښکاره کړو ځکه چه نبی دَ مخکښں نه مؤمن وی وَقَالَ ضمیر ابراهیم یا لوط علیهم السلام ته راجع دے۔

إِلَىٰ رَبِّي، لام ئے ځکه نه دے وئیلے چه په هغے کښں دلالت دے په صرف اخلاص باندے او په إِلَىٰ کښں سره دَ اخلاص نه دلالت دے چه مکان دَ هجرت به هم په امر او په رضا دَ الله تعالیٰ سره وی۔

وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ

او خاص کړه موږ په اولاد د ده کښې پیغمبري او کتابونه

وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِي الدُّنْيَا ۚ وَاِنَّهٗ

او ورکړ موږ ده ته بدله د ده په دنیا کښې او یقیناً دے به

فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۲۷﴾ وَلُوْطًا

په آخرت کښې خامخا د بوره نیکانو نه وی. او یاد کړئ لوط علیه السلام

اِذْ قَالَ لِقَوْمِهٖٓ اِنَّكُمْ لَتَاْتُوْنَ

کوم وخت چه اُوئیل هغهٔ قوم خپل ته یقیناً تاسو خامخا راتلل کوئ

۲۷:- دا په صبر د ابتلاء اتو باندے څلور نتیجے ذکر کوی اوّل بشارت په ځوے او نوسی سره. او د نوسی په بشارت کښې اشاره ده اوږدوالی د عمر ته تر دے پورے چه نوسے په اُوینی او ذکر د اسماعیل علیه السلام ئے ځکه اونکړو چه په دے هجرت کښې د ده سره ساره رضی الله عنها مور د اسحاق علیه السلام ملګرے وه نو دا بشارت هغې ته هم دے.

دویمه نتیجه د ابراهیم علیه السلام په اولاد کښې انبیاء او آسمانی کتابونه خاص کول چه د هغه نه روستو هیڅ نبی د هغه د اولاد نه بغیر نه دے راغلے او څوک چه دعوی د نبوت کوی په دروغه سره لکه مرزا غلام محمد قادیانی نو هغهٔ خپل نسب د ابراهیم علیه السلام نه نشی ثابتولے.

دریمه نتیجه د دنیا بعضے نعمتونه دی لکه فراخی د رزق، کثرت د اولاد، نیک ذکر په خلقو کښې. محبت د عامو خلقو د طرف نه په ځان متسوب کولو سره هغه ته وغیره. چه یهود او نصارٰی او مشرکین عرب ټولو وئیل چه موږ په دین ابراهیمی باندے یو.

څلورمه نتیجه په آخرت کښې د جماعت د کامیابو او کامل صالحینو نه کیدل.

الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ

بدکارئ ته چه وړاندے والے نه دے کړے ستاسو په هغے باندے

أَحَدٍ مِّنَ الْعَالَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ

هیچا د خلقو نه - آیا تاسو راتلل کوئ

الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ وَتَأْتُونَ

نارینو ته او بندوئ لارے ، او راتلل کوئ

فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ

په مجلسونو خپلو کښ بدکارونو ته ، نو نو ؤ جواب

قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتِنَا بِعَذَابِ اللَّهِ

د قوم د دهٔ مګر دا چه اُوئیل دوی راوړه مونږ ته عذاب د الله تعالی

إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ

که چرے ته یے د رشتینو نه - اُوئیل هغه اے ربه زما

ف٢٨:- دا دریمه قصه ده د پارهٔ د بیان د دریم قسم ابتلاء، او هغه مصیبتونه دی په لوط علیه السلام باندے او مخالفت د قوم د هغه په طریقه د استهزاء او طلب د عذاب د هغه نه چه د هغے ذکر په سورة هود او سورة حجر او سورة شعراء کښ تیر شوے دے -

مَا سَبَقَكُمْ، دا مزین قباحت ته اشاره ده دا سے په سورة اعراف ف٨٠ کښ تیر شوے دی۔

ف٢٩:- په دیکښ ذکر د نورو قباحتونو د هغوی دے او اول تفسیر د فاحشه دے۔

وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ، مراد تړینه لارے شوکول او مسافرو سره فاحشه کول په زور چه هغه سبب د شاړولو د لارو دے یا مراد تړینه نسل قطع کول دی په سبب د پریخودلو د استعمال د ښځو سره -

وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ، دا عام لفظ دے شامل دے فاحشه کول

انْصُرْنِیْ عَلَی الْقَوْمِ الْمُفْسِدِیْنَ ﴿۳۰﴾ وَلَمَّا

مدد اوکړه ما سره په مقابله دَ قوم فساد کوونکو کښ. او هر کله چه

جَآءَتْ رُسُلُنَآ اِبْرٰهِیْمَ بِالْبُشْرٰی قَالُوْٓا

راغلل ملائک زمونږ ابراهیم علیه السلام ته په زیری سره او وئیل دوی

اِنَّا مُهْلِکُوْٓا اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْیَةِ اِنَّ اَهْلَهَا

یقینًا مونږ هلاک کوونکی یو اوسیدونکو دَ دے کلی لره. یقینًا اوسیدونکی دَ دے

کَانُوْا ظٰلِمِیْنَ ﴿۳۱﴾ قَالَ اِنَّ فِیْهَا لُوْطًا قَالُوْا

دی ظلم کوونکی. او وئیل ابراهیم علیه السلام یقینًا په هغے لوط شته، او وئیل دوی

دَ خلقو په وړاندے او په کانړو باندے ویشتل دَ خلقو، او په خلقو پسے کټل کول او شپیلی وهل وغیره. فَمَا کَانَ جَوَابَ قَوْمِهٖٓ اِلَّا. په سورة اعراف او نمل کښ دَ هغوی جواب په اخراج (ویستل دَ لوط علیه السلام دَ کلی نه) سره ذکر دے او په دے سورت کښ په طلب دَ عذاب سره دَ دے او په دواړو ځایونو کښ جمله دَ حصر ذکر ده نو دا خو ښکاره تعارض دے جواب دے په دوه وجو سره.

اوله وجه دا ده چه دا مطالبه په اول ځل کښ وه او هر کله چه لوط علیه السلام بیا بیا وعظ دوی ته کوو نو بیا دوی جواب اوکړو دَ هغه په اخراج سره.

دویمه وجه دا دواړه حصرونه اضافی دی یعنی دے سورت کښ مراد دا دے چه نوو جواب دَ قوم په باره دَ خپل ځان کښ مګر په طلب دَ عذاب سره. او په سورة اعراف او سورة نمل کښ مراد دا دے چه نه وو جواب دَ قوم دَ هغوئ په باره دَ لوط علیه السلام کښ مګر په اخراج سره.

۳۰:- روستو دَ تا امید کیدلو دَ ایمان دَ قوم نه دُعا دَ نصرت او دعا دَ عذاب ده په قوم باندے. دا دعا دلالت کوی چه هغوی لوط علیه السلام ته ډیر اذیتونه رسولے وو دَ دے وجے نه هغوی ته ئے مفسدین اُوئیل.

۳۱:- دعا دَ هغه قبول شوه او الله تعالیٰ ملائیک را اولیږل اول بشارت ورکوونکی ابراهیم علیه السلام ته. او بیا خبر ورکوونکی په باره دَ قوم دَ لوط

نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَنْ فِيهَا لَنُنَجِّيَنَّهٗ وَاَهْلَهٗٓ اِلَّا

موږ ښه خبر يو په هغه چا باندې چه په هغې کښې دي خامخا بچ به کړو موږ هغه لره او د هغه کورنۍ لره مګر

امْرَاَتَهٗ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَمَّآ اَنْ جَآءَتْ

ښځه د هغه وي به د پاتې کيدونکو نه. او هر کله چه راغلل

رُسُلُنَا لُوْطًا سِيْٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

ملائک زموږ لوط عليه السلام ته خفه کړے شو په هغوی او تنګ ئې شو په دوی باندې زړه

وَّقَالُوْا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ قف اِنَّا مُنَجُّوْكَ

او اُوئيل دوی مه ويريږه او مه خفه کيږه يقيناً موږ بچ کوو تا لره

وَاَهْلَكَ اِلَّا امْرَاَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۳۳﴾

او کورنۍ ستا مګر ښځه ستا وي به د پاتې کيدونکو نه.

عليه السلام کښې. او حکمت دا دے چه يو قوم مکذب که هلاک کړے شي پروا نشته ځکه چه الله تعالیٰ د هغوی په عوض کښې يو صالح سړے پيدا کوي.

بِالْبُشْرٰى، ظاهر دا ده چه مراد د دينه بشارت دے په ولد (اسحاق عليه السلام) سره.

اِنَّا مُهْلِكُوْٓا، دا دويم بشارت دے ليکن ابراهيم عليه السلام پدے دويم بشارت اولاً رضا نه وو.

۳۲:- مقصد د ابراهيم عليه السلام تاخير د عذاب وو د دے قوم نه، پدے اميد سره چه دوی به ايمان راوړي. او علت د هغے ئې ذکر کړو چه لوط عليه السلام په هغوی کښې موجود دے او په وخت د وجود د نبي په هغهٔ قوم کښې عذاب نه راځي نو ملائکو جواب ورکړو چه لوط عليه السلام به اول بچ کړے شي بيا به په هغوی باندے عذاب راځي.

لَنُنَجِّيَنَّهٗ، هر کله چه ملائک رُسل وي او قول د رسول قول د مرسل وي نو معلومه شوه چه نَحْنُ اَعْلَمُ اٰه قول د الله تعالیٰ دے.

۳۳:- پدے آيت کښې ئې آن راوړو او مخکښې ئې آن نه وو ذکر کړے

إِنَّا مُنْزِلُوْنَ عَلَىٰٓ اَهْلِ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ

بیشکه موږ راکوځوونکي يو په دے کلي والو باندے

رِجْزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوْا

سخت عذاب دَ آسمان دَ طرف نه په دے وجه چه دوی

يَفْسُقُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنَا مِنْهَا

نافرمانی کوله۔ او یقینًا پریخودله موږ دَ هغے کلی نه

اٰيَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِلٰى

نخښه ښکاره دَ پاره دَ عبرت دَ داسے قوم چه عقل لری۔ او طرف دَ

وجه دا ده ، اَنْ دلالت کوی په اتصال باندے نو مخکښ قول دَ ملائکو متصل نه وو په راتللو دَ ملائکو پورے نوره تشریح په سورة هود کښ تیره شوی ده ۔

لَا تَخَفْ ، مه ویریږه په موږ باندے۔ وَلَا تَحْزَنْ ، او مه غمژن کیږه دَ دوی په عذاب او هلاک یا تندے۔

كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ، په ۳۲ او په ۳۳ کښ فرق دا دے چه هلته مراد دا دے چه دَ هغوی سره په عقیده کښ شریکه ده او دلته مطلب دا دے چه دَ هغوی سره په عذاب کښ شریکه ده۔

۳۴ :- روستو دَ بشارت دَ نجات نه انذار دے په عذاب دَ قوم سره۔ رِجْزًا ، کښ اشاره ده باران دَ کانړو ته سره دَ صیحه نه چه دَ آسمان دَ طرف نه په نازلیږی یا من السماء په معنیٰ دَ مقدر من السماء دے۔

۳۵ :- اٰيَةًۢ بَيِّنَةً ، مراد دَ دینه دَ دوی کنډرات یا کانړی نازل کړے شوی چه باقی وو تر دیر وخت پورے یا تورے او په یعنی دَ بحر اسود هغه حصه چه حیوان پکښ ژوندے نشی پاتے کیدے ۔

فائده :- په واقعه دَ نوح او ابراهیم علیهما السلام کښ دلیل دَ قدرت په انجاء کښ ذکر کړے وو او په واقعه دَ لوط علیه السلام کښ دلیل دَ قدرت په هلاکت کښ ذکر کړے دے اشاره ده چه په دواړه حالتونو

مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۙ فَقَالَ يٰقَوْمِ

مدین ته ورور د هغوی شعیب علیه السلام نو اُوئیل هغهٔ اے زما قومه

اعْبُدُوا اللّٰهَ وَارْجُوا الْيَوْمَ الْاٰخِرَ

بندګی خاص کړئ الله تعالیٰ لره او عقیده لرئ په ورځ روستنئ

وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿۳۶﴾

او مه ګرځئ په ملک کښ فساد کوونکی۔

فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ

نو دوی هغه ته دروغژن اُوئیل نو اونیوه دوی لره زلزلے

کښ دلیلونه د قدرت د الله تعالیٰ دی۔ دا رنګ په واقعه د نوح علیه السلام کښ عالَمِیْنَ ئے اُوئیل ځکه چه امثال د کشتئ په ټول عالم کښ شته خلق ترینه عبرت اخستلے شی او په واقعه د ابراهیم علیه السلام کښ ئے د مؤمنانو تخصیص اوکړو ځکه چه په هغے کښ ایات د تشجیع او تسلئ دی او هغه خاص دی په مؤمنانو پورے او په واقعه د لوط علیه السلام کښ ئے لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ، اُوئیل ځکه چه د هغوی کنړرات په خاص ځائے کښ دی او څوک چه په هغے باندے ورتیریږی او عقل لری نو هغه ترینه عبرت اخستلے شی۔

۳۶:- دا څلورمه قصّه ده د پاره د بیان د څلورم ابتلاء چه هغه تکالیف دی په شعیب علیه السلام باندے۔ چه په سورة هود او شعراء کښ د هغے تفصیل ذکر دے۔ او تکذیب د قوم د هغهٔ (په طریقه د ډیرے بے ادبئ سره لکه چه سورة هود کښ ذکر شوے ده) او د دهٔ په واقعه کښ دعوت دے توحید ته او عقیدے د یوم آخر ته او منع ده د هر قسم فساد نه یعنی شرک او خیانت په پیمانه او وزن او په مالونو د خلقو کښ۔

فَاَصْبَحُوْا فِىْ دَارِهِمْ جٰثِمِيْنَ ﴿۳۷﴾ وَعَادًا

نو شول (په وخت د صبا کښې) په کورونو خپلو کښې مړي جوخت شوي په زمکې پورې او هلاک کړلو مونږ عادیان

وَّثَمُوْدَا وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ

او ثمودیان او بېشکه ښکاره دي تاسو ته (حالات) د هغوی

مَّسٰكِنِهِمْ ۗ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ

مکانونو د هغوی نه او ښائسته کړیو دوی ته شیطان

اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ

عملونه د دوی نو بند کړي وو دوی لره د لارې د توحید نه

وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ ﴿۳۸﴾ وَقَارُوْنَ

او دوی وو هوښیاران ۔ (او هلاک کړي دي مونږ) قارون

۳۷:۔ رَجْفَةٌ، زلزله د زمکې مراد ده یا مصیبت د زړونو پیدا شویوه په سبب د صیحه سره ځکه سورة هود کښې صیحه ذکر ده او سورة اعراف کښې او دلته ئې رجفه ذکر کړې ده ۔ بیا هر کله چه رجفه کښې خپل هیبت ډیر وو د دې وجې نه د ار جمع ذکر کولو ته ضرورت نشته او د صیحه هیبت د رجفې نه کم دې نو د دې وجې د زیات هیبت د پاره ئې دیار د صیحه سره جمع ذکر کړې دې ۔

۳۸:۔ دا ذکر د عذاب د دوؤ قومونو دې او دا متعلق دې د سورت د دویمې دعوې سره ۔

وَقَدْ تَّبَيَّنَ، فاعل ئې پټ دې عَذَابُهُمْ وَاَحْوَالُهُمْ یا مِنْ په معنی د بعض دې او فاعل دې ځکه چه د هغوی بعضې کنډرات باقي وو ۔

فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ، یعنې شرک و بدعات وغیره ښائسته ښکاره کیدل سبب دې د منع کیدلو د توحید او سنت نه ۔

مُسْتَبْصِرِيْنَ، دا جواب د وهم دې چه شیطان ځکه دهوکه کړې وو چه دوی سادالکان وو. جواب او شو چه دوی ډیر هوښیار وو ۔

فائده :- دا عام کافرانو او مشرکانو په باره کښې وئیلې شوي دي لا یعقلون

وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ

او فرعون او هامان لره او یقیناً را غلے وو دویته

مُّوسٰی بِالْبَیِّنٰتِ فَاسْتَکْبَرُوْا فِی الْاَرْضِ

موسی علیه السلام په ښکاره معجزاتو سره نو لوئی او کړه هغوی په ملک کښ

وَمَا کَانُوْا سٰبِقِیْنَ ﴿۳۹﴾ فَکُلًّا اَخَذْنَا

او نه وو دوی بچ کیدونکی د عذاب نه - پس هر یو لره او نیوو مونږ

بِذَنْۢبِهٖ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ اَرْسَلْنَا عَلَیْهِ

په ګناه د هغه سره نو بعضے د دوی نه هغه دی چه را اولیږل مونږ په هغوی باندے

حَاصِبًا ۚ وَمِنْهُمْ مَّنْ اَخَذَتْهُ الصَّیْحَةُ ۚ

سیلئ کانړی ویشتونکے او بعضے د دوی نه هغه دی چه او نیوو هغوی لره تیزے چغے

وَمِنْهُمْ مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْاَرْضَ ۚ

او بعضے د دویته هغه دی چه ښخ کړو مونږ په زمکه کښ

او دلته یے ورته مُسْتَبْصِرِیْنَ، اُوئیل داخو تعارض دے؟
جواب دا دے چه بے عقلی په باره د امورو د آخرت کښ ده او هوښیارتیا
په باره د امورو د دنیا کښ ده لکه په سورة روم کښ فرمائیلے دی یَعْلَمُوْنَ
ظَاهِرًا مِّنَ الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ غٰفِلُوْنَ.
۳۹:- په دے آیت کښ ذکر دے د نورو اقوامو مکذبینو د پاره د
تخویف دنیوی - او دا هم متعلق دے د دویمے دعوے د سورت سره
په قرینه د مَا کَانُوْا سٰبِقِیْنَ سره او د دوی د اقتدار او مالدارئ د وجے
نه د دوی علت د عذاب استکبار ذکر کړو.

وَمِنْهُمْ مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ

او بعضې د دوی نه هغه دي چه غرق کړيدي مونږ　او نه وو　الله تعالی

لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ

چه په دوی باندې ظلم کړيوې　ليکن　دوی　په ځانونو خپلو باندې

يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾ مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا

ظلم کوؤ .　حال　د　هغه کسانو | چه نيولي ئې دي

مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ كَمَثَلِ

سوا　د　الله تعالی نه　مددګاران (معبودان) پشان　د　حال

الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ وَإِنَّ

د جولاګی دې　چه جوړ کړيوی　کور ،　او　يقينًا

أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ

ډير کمزورې د کورونو نه　خامخا کور　د　جولاګی　دې

ف :- په دې آيت کښ ذکر دې د څلورو قسمونو د عذاب دنيوی سره .

حَاصِبًا ، عذاب د داسې سيلئ چه کاڼړی اولی او دا عذاب د عاديانو او د قوم لوط وو .

الصَّيْحَةُ ، دا عذاب د ثموديانو او د اصحاب مدين وو .

خَسَفْنَا ، دا عذاب د قارون وو .

أَغْرَقْنَا ، دا عذاب د قوم نوح او قوم فرعون او هامان وو او سبب د عذاب د ټولو دا دې وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ځکه چه ظلم عام دې کفر شرک عمل د قوم لوط عمل د قوم شعيب او استکبار د فرعونيانو ته شامل دې .

لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۱﴾ إِنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا

که چیرے دوی پوهیدلے - یقینًا الله تعالٰی پیژنی (حال) دَ هغه چاچه

سلف :- خلاصه :- دَ دے آیت نه دریم باب دے تر سلف پورے په دے کښ مثال دے دَ پاره دَ رد دَ شرک او ذکر دَ څلورو صفاتو دَ الله تعالٰی دے دَ پاره دَ اثبات دَ توحید بیا طریقه دَ دعوت ده په ذکر دَ څلورو آدابو بیا اثبات دَ صدق دَ رسول دے په څلورو طریقو سره بیا زجر دے په عذاب طلب کولو دَ دنیا او دَ آخرت او ذکر دَ څلورو احوالو دَ منکرینو دے۔

تفسیر :- دَ دے آیت سلف مناسبت دَ مخکښ سره دا دے هر کله چه عذابونه دَ مشرکانو مخکښو ئے ذکر کړل لیکن دَ هغوی آلهو هغوی سره هیڅ امداد نه دے کړے نو په دے آیت کښ دَ هغوی دَ عجز او کمزورئ مثال ذکر کوی دَ پاره دَ رد کولو په تولو مشرکانو باندے۔

اِتَّخَذَتْ بَيْتًا، په صیغه دَ اتخذ سره اشاره ده چه بیت نه دے لیکن دے پرے دَ بیت خیال کوی دَ دے وجے نه نسیج العنکبوت ئے نه دے ذکر کړے ځکه نسیج خو حقیقت کښ شته لیکن بیت یعنی کوټه نشته۔

تفصیل دَ مثال دا دے لکه چه عنکبوت جاله جوړوی لیکن په داسے مکان او صحرا کښ چه صفائی ئے نه کیږی شاړوی او دے په دے جاله باندے خیال کوی چه دا زما کوټه ده ما به دَ بادو باران دَ ګرمئ یخنئ او دَ ستمر دَ تپ نه بچ کوی لیکن که په دنیا کښ تلاش او کړے نو دَ دے نه به کمزورے ځائے پیدا نکړے ځکه دا جاله هیڅ فائده نه ورکوی ما سوا دَ دے نه چه میچ پکښ ښکار کیدے شی او کله پکښ عنکبوت پخپله او تخلی او مړ شی۔

نو دا رنګ مشرکانو په خپلو باطل معبودانو باندے عقیده لرلے ده وائی چه موږ چه دوی ته سجدے کوؤ او دَ دوی نذرانے پیش کوؤ په دے به دوی موږ لره دَ هر مصیبت او تکلیف نه بچ کوی او زموږ حاجتونه به پوره کوی راو دا عقیده همیشه په شاړو جاهلانو خلقو کښ راځی چه هغوی دَ عقیدے دَ صفائی هیڅ خیال نه ساتی)

يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ شَيْءٍ ۭ
دوی ئې یلنه کوی سِوا د الله تعالیٰ نه که هر څه وی ،
وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۴۲﴾ وَتِلْكَ
او خاص هغه دے زورآور حکمتونو والا. او دا
الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا
مثالونه بیانوؤ موږ د پاره د خلقو او نه
يَعْقِلُهَآ اِلَّا الْعٰلِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ خَلَقَ اللّٰهُ
پوهیږی پدے پاندے مګر عالمان . پیدا کړیدی الله تعالیٰ

لیکن که ډیر تفتیش د دینونو اوکړے نو د دین د شرک نه په درسته کمزورے بل دین ملاؤ نشی ځکه چه دغه معبودان دے عابدانو لره هیڅ حاجت نشی پوره کولے او نه تړینه هیڅ تکلیف او مصیبت لرے کولے شی. بلکه د دے عقیدے په وجه سره به په عذاب کښ اخته شی. هاں د شرک پدے عقیدے سره د مریدانو نه د دُنیا مال او عزت حاصله وی لیکن د دغه مالونو او د دُنیا د عزت مثال خو د مچ نه سپک دے، معمولی فائده حاصله کړی لیکن غټے فائدے تړینه فوت شی.

۴۲۔ دا دلیل دے د رد د شرک او د الله تعالیٰ درے صفتونه ئې ذکرکړے دی او پدے آیت کښ جواب د وهم دے. وهم دا دے چه دا مخکښ مثال ئې ولے عام بیان کړو د اولیاؤ او بزرګانو عبادت کوؤنکی تړینه ولے نه مستثنیٰ کول ؟
حاصل د جواب دا دے چه الله تعالیٰ خو د دے ټولو په حال پاندے خبر دے چه دا ټول کمزوری او عاجزدی د هیڅ چا هیڅ حاجت نه شی پوره کولے.
الْعَزِيْزُ، یعنی ملګری ته ئې حاجت نشته. الْحَكِيْمُ، یعنی مشیر ته ئې هم حاجت نشته.

۴۳۔ پدے آیت کښ د مثالونو فائدوته اشاره ده او رد دے په هغے

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ اِنَّ

آسمانونه او زمکه دَحق سره کولو دَپاره ، یقیناً

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۴﴾ ع ۴

په دے کښ خوخامخا دلیل دے دَپاره دَ مؤمنانو ۔

چا بانده چه دَ دے دَ فائدو نه خبر نه دی نو انکار کوی یعنی دوی جاهلان دی۔ او په دے آیت کښ دلیل دے چه عالِم دَالله تعالیٰ په تیز هغه څوک دے چه دَ قرآن کریم په مثالونو کښ سوچ کوی او په هغے بانده پوهه لری۔
یَعْقِلُهَآ پوهه دَ مثال دا ده چه وجه شبه په دواړه طرفونو (مشبه او مشبهه به) کښ اوپیژنی او په حکمتونو دَ مثال بانده پوهیږی او دائے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه مشرکانو وئیل چه الله تعالیٰ دا سے دَ سپک څیزونو مثالونه نه ذکر کوی نو الله تعالیٰ دَ هغے فائدو ته اشاره اوکړله۔
۴۴:۔ دا هم دلیل دے دَ رد دَ شرک ۔ او دَ الله تعالیٰ څلورم صفت ئے ذکر کړے دے یعنی څوک چه په مثالونو نه پوهیږی نو دَ آسمان او دَ زمکے په دلیلونو کښ دِ فکر اوکړی او ایمان دے راوړی۔

اُتْلُ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ وَاَقِمِ
لوله هغه چه وحی کړیشویده تاته د کتاب نه او پوره کوه
الصَّلٰوةَ ؕ اِنَّ الصَّلٰوةَ تَنْهٰى عَنِ
مونځ لره، یقینًا دغه مونځ منع کوی د
الْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ ؕ وَلَذِكْرُ اللّٰهِ
نبکاره بدئ نه او د ناروا وؤ نه، او خامخا ذکر د الله تعالیٰ
اَكْبَرُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُوْنَ ﴿۴۵﴾
ډیر لوئے دے، او الله تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه تاسو کوئ.
وَلَا تُجَادِلُوْٓا اَهْلَ الْكِتٰبِ اِلَّا بِالَّتِيْ
او بحث مه کوئ د کتابیانو سره مگر په هغه طریقه

۴۵:- پدے آیت او وروستو آیت کښ شلور آداب او امور د دعوت دپاره ذکر کوی یعنی د رد د شرک دپاره د مثال سره دا کارونه هم کوه چه آوریدونکو کښ اثر پیدا شی پدے آیت کښ د هغے نه دوه ئے ذکر کړے دی.

اول لوستل د کتاب د الله تعالیٰ چه د هغے نه علمونه حاصل کړی او نورو خلقو ته بیان کول د کتاب الله مراد دی.

دویم عمل کول په پابندئ کولو د مانځه پابندے او د مانځه فائدے ئے بیان کړیدی.

اول دا چه د گناهونو نه منع کوی دویم دا چه په مانځه کښ د الله تعالیٰ ذکر دے او ذکر د ټولو عباداتونو نه لوئے عبادت دے.

فَحْشَآءِ، هغه گناهونه دی چه په عقل سره هم د هغے ناکاره والے معلومیږی.

مُنْكَرِ، هغے ته وائی چه صرف په دلیل شرعی سره معلوم وی چه دا گناه دے.

فائده:- مراد د مانځه نه هغه مونځ دے چه د رسول الله صلی الله

هِيَ اَحْسَنُ ۖ اِلَّا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

چه خائسته ده مګر هغه کسان چه ظلم ئې کړی دی

مِنْهُمْ وَقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا بِالَّذِيْٓ

د دوی نه (په عناد سره) او وائی ایمان راوړی دی موږ په هغه څه چه

اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَاُنْزِلَ اِلَيْكُمْ وَاِلٰهُنَا

چه نازل کړی شوی دی موږ ته او نازل کړی شوی دی تاسو ته او حقدار د بندګئ زموږ

وَاِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ وَّنَحْنُ لَهٗ مُسْلِمُوْنَ ﴿٤٦﴾

او حقدار د بندګئ ستاسو یو دی او موږ هغهٔ لره تابعدار یو۔

علیه وسلم د سنت سره برابر وی او قبول وی۔ مونځ کښ اګر شخص که د ګناهونو کولو نه نهٔ منع کیږی نو د دهٔ مونځ کښ به ضرور شرعي نقصان وي او قبول به نه وی۔

وَلَذِكْرُ اللّٰهِ اَكْبَرُ، د دے ډیر توجیهات دی۔ اوله معنیٰ دا ده چه ذکر د الله تعالیٰ د ټولو عبادتونو نه لوی عبادت دے ځکه چه ذکر الله نه مراد ذکر په عقیده د توحید سره دے او دا بنیاد د ټولو عبادتونو دے دویمه معنیٰ دا ده چه ذکر د الله تعالیٰ په مانځه کښ لوی (غوره) دے د ذکر هغه نه چه بهر د مانځه نه دے۔ دریمه معنیٰ دا ده چه ذکر د الله تعالیٰ تاسو لره ډیر لوی خیر دے د ذکر ستاسو نه هغه لره او هغه حاصلیږی په صحیح مونځ کولو سره۔

تَصْنَعُوْنَ، صنع هغه عمل ته وئیلی شی چه ډیر کړته او عادة کیدلے شی۔

ملا :- دا دریم ادب د دعوت دے او خاص دے په کتابیانو او اهل علمو پورے یعنی هر کله چه دوی په تاسو باندے باطل اعتراضونه کوی نو د هغې الزامی او مسکت (چپ کوونکی) جوابونه ورکوئ او خائسته طریقه استعمال کړئ یعنی کنځل او ژبه مه استعمالوئ بلکه په حجت د کتاب الله او د سنت سره جواب ورکوئ۔

وَلَا تُجَادِلُوْٓا، مراد د جدال نه د اعتراضونو جوابونه ورکول دی۔

وَكَذٰلِكَ أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ ط

او دغسې نازل کړې ده موږ تاته کتاب ،

فَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يُؤْمِنُونَ

نو هغه کسان چه ورکړې ده موږ هغوی ته کتاب ایمان راوړی

بِهٖ ج وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِهٖ ط

په دې باندې او د دې کسانو نه هغه څوک دی چه ایمان راوړی په دې کتاب باندې،

وَمَا يَجْحَدُ بِآيَاتِنَا إِلَّا الْكَافِرُونَ ﴿٤٧﴾

او انکار نه کوی د آیاتونو زموږ نه مګر کافران -

الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ، مراد د ظلم نه ضد او عناد دې یعنی د هغوی پشان معامله کوئ سخت جواب ورکوئ او که جګړې ته ضرورت شي نو هم ورسره جهاد کوئ دا ابن کثیر ذکر کړې دی.

وَقُولُوا ، دا څلورم ادب دے یعنی په وخت د مجادله او مناظره کښې فیصله په کتاب مُنزّل باندې کوئ ځکه چه ایمان په ما انزل اللّٰه پورې خاص دے او د ټولو کتابونو مقصد توحید دے د دې وجې نه روستو ئې وَإِلٰهُنَا وَإِلٰهُكُمْ وَاحِدٌ ذکر کړے دے.

ﮐﮯ :- د دې آیت نه ذکر کوی څلور طریقې د صدق د قرآن او د رسول صلی اللّٰه علیه وسلم.

په دې آیت کښې اوله طریقه ده یعنی مخکنو علماؤ اهل کتاب او د عوامو موجودو نه بعضې خلقو دا قرآن منلے دے نو معلومه شوه چه رشتنی کتاب او رسول دے.

وَمِنْ هٰٓؤُلَآءِ ، مراد د دینه صحابه کرام دی.

وَمَا يَجْحَدُ ، سره زجر دے منکرینو ته په یکښې دوه توجیه دی. اوله دا چه په انکار د قرآن سره کافر شوه. دویمه دا چه د مخکښې نه کافر (منکروؤ د توحید نه) دی نو د دې وجې نه د قرآن نه انکار کوی.

وَمَا كُنتَ تَتْلُوا مِن قَبْلِهِ مِن

او نه وې ته چه لوستلې وې تا مخکښ د دې (قرآن) نه څه

كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ إِذًا لَّارْتَابَ

کتاب او نه لیکلې دې تا کتاب په ښی لاس خپل سره دغه وخت خامخا شک به کړې وې

الْمُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ

باطل پرستو۔ بلکه دا قرآن دی آیاتونه ښکاره

فِى صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ

په سینو د هغه کسانو کښ چه علم ورکړې شوې دې،

وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا الظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾

او انکار نه کوی د آیاتونو زمونږ نه مګر ظالمان۔

۴۸:۔ دا دویمه طریقه ده یعنی دا رسول لوستونکے د کتابونو نه دے او نه خط لیکلے شی نو معلومه شوه چه دا کتاب ئے د ځان نه نه دے جوړ کړے۔

بِيَمِينِكَ، دا په باعتبار د اکثر عادت دے او اشاره ده چه لیکل په ښی لاس سره ېکار دی۔

إِذًا لَّارْتَابَ، یعنی که چرے دا نبی لیکونکے وے نو بیا به د دے منکرینو د شک د پاره څه سبب وے لیکن اوس خو هیڅ وجه د شک نشته۔

الْمُبْطِلُونَ، هغه خلق چه د حق مقابله کوی په باطلو شبهاتو سره۔ باطلونکے دی حق لره په خپلو ارادو سره یا مُبْطِلُونَ په معنیٰ د خاوندان د باطل پرستیٔ دی سره دے۔

۴۹:۔ دا دریمه طریقه ده د اثبات د صدق د قرآن او رسول صلی الله علیه وسلم یعنی دا قرآن محفوظ دے په سینو د صحابه کرامو کښ او د نورو علماؤ او حافظانو په سینو کښ نو د دے تحریف د الفاظو او ابطال هیڅوک نشی کولے او دا د قرآن کریم خصوصیت دے چه ما سوا د انبیاؤ علیهم السلام نه د امتیانو په حافظه کښ هم راتلے شی۔

وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ اٰيٰتٌ

او وائي دوی ولې نشي نازليدلې په دهٔ باندې معجزات

مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ

د طرف د رب د دهٔ نه، ته اوايه يقيناً د معجزاتو اختيار

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاِنَّمَآ اَنَا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۵۰﴾

د الله تعالیٰ سره دے، او يقيناً زهٔ ويره درکوونکے ښکاره يم.

اَوَلَمْ يَكْفِهِمْ اَنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ

آيا او نه ده پوره د دوی دپاره دا خبره چه نازل کړيدے مونږ په تا باندے

الْكِتٰبَ يُتْلٰى عَلَيْهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ

کتاب لوستلے شي په دوی باندے، يقيناً په دیکښ

او مخکني کتابونه په صرف د انبياؤ چه حفظ کښ راتلل امتيانو به ته شو حفظ کولے.

اُوْتُوا الْعِلْمَ، نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ په نيز د قرآن والا عالمان دی او علم ئے اوئيل حفظ ئے نه دے وئيلے ديته اشاره ده چه اصل فرض علم د قرآن دے که حفظ ورسره وی نو غوره ده.

فائده:- په دے کښ اَلْكٰفِرُوْنَ ئے وئيلے دے ځکه چه مقابل کښ ايمان ذکر کړيدے او پدے آيت کښ الظّٰلِمُوْنَ ذکر کړيدے ځکه چه دليلونه د صدق ذکر شول او بيا هم که څوک انکار کوی نو هغه عنادی او ظالم دی.

نمبر ۵۰:- دا زجر دے په اعتراض کولو سره په صدق د رسول او د قرآن باندے پدے وجے سره چه د هغوی په نيز ايات او معجزات را اوړل د نبی په اختيار کښ دی.

اول جواب او شو چه معجزه صرف د الله تعالیٰ په اختيار او قدرت کښ ده د نبی په معجزه کښ هيڅ اختيار نشته دا مسئله په سورة رعد ۳۸ کښ تير شوی دی.

لَرَحۡمَةً وَّذِكۡرٰى لِقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۱﴾

خامخا رحمت او نصیحت دے دپاره دقوم چه ایمان راوړی۔

قُلۡ كَفٰى بِاللّٰهِ بَيۡنِىۡ وَبَيۡنَكُمۡ شَهِيۡدًا ۚ

ته اُوایه پوره دے الله تعالیٰ په مینځ زما کښ او په مینځ ستاسو کښ فیصله کوونکے

يَعۡلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ ؕ

عالم دے په هغه څه چه په آسمانونو کښ دی او زمکه کښ دی،

وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِالۡبَاطِلِ وَكَفَرُوۡا

او هغه کسان چه یقین لری په باطل معبودانو باندے او انکار کوی

بِاللّٰهِ ۙ اُولٰٓـئِكَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۵۲﴾

دَ الله تعالیٰ نه دغه کسان خاص دوی تاوان والا دی۔

سله :- دا دویم جواب دے دَ سوال۔ حاصل دَ جواب دا دے چه قرآن کریم پوره معجزه ده او دَ ټولو معجزاتو نه بهتر ده څکه چه باقی پاتے کیدونکے معجزه ده او تمام اهل دنیا ته دَ دے اعجاز ثابت شوے دے۔

اَوَلَمۡ يَكۡفِهِمۡ، یعنی په اثبات دَ صدق دَ رسول او دَ کتاب کښ دَ قرآن اعجاز کافی دلیل دے۔

لَرَحۡمَةً، سبب دَ نزول دَ رحمت الٰهی دے یا سبب دَ اطمینان دَ زړونو دے یا رحمة په معنیٰ دَ نعمت خاصه دے۔

فائده :- دا ښکاره دلیل دے چه په معجزه کښ دَ نبی قدرت او اختیار نه وی څکه چه قرآن معجزه ده نو که په دے کښ قدرت دَ نبی وے نو بیا خو به دا افتراء وه لکه چه مشرکانو اعتراض کوؤ۔

سله :- دا نتیجه ده دَ مخکښ بیان چه الله تعالیٰ دَ رسول او دَ قرآن صدق ثابت کړو نو دا شهادت دَ الله تعالیٰ دے او دا شهادت کافی دے دَ پاره دَ اثبات دَ صدق۔ بیا زجر دے منکرینو ته چه سره دَ دے شهادت نه خوک په باطل کتابونو او معبوداتو او شبهاتو باندے یقین کوی او دَ کتاب دَ الله تعالیٰ نه انکار کوی نو دا په لوے خسران کښ دی

وَيَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۭ وَلَوْلَآ
او په تادئ سره غواړي ستا نه عذاب (د دنيا) ، او که چرې نه وے
اَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ الْعَذَابُ ۭ
نيټه مقرر خامخا راغلے به وے دوی ته عذاب ،
وَلَيَاْتِيَنَّهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا
او خامخا راځي به دوی ته ناساپه او دوی به نه
يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۳﴾ يَسْتَعْجِلُوْنَكَ بِالْعَذَابِ ۭ
پوهيږي - په تادئ سره غواړي دوی ستا نه عذاب ،
وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌۢ بِالْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۴﴾
او يقيناً جهنم خامخا راګيروونکے دے کافرانو لره -
يَوْمَ يَغْشٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ فَوْقِهِمْ
په هغه ورځ چه راګير به کړي دوی لره عذاب د پاسه د دوی
وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ وَيَقُوْلُ
او لاندے د خپو د دوی نه او او به وائي
ذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۵۵﴾
او څکئ (سزا) د هغه عملونو چه تاسو کول -

۵۳ :- دا زجر دے په زرطلب کولو د عذاب دنيوي سره او د هغے جواب او شو چه عذاب به په خپلے نيټے سره او ناساپه به راځي -
بَغْتَةً ، هغه دے چه د وخت او تاريخ تعين ئے معلوم نه وي اګرچه علامات ئے وي -
۵۴ ، ۵۵ :- دا زجر دے په زرغوښتلو د عذاب اخروي ريعني دوی وائي چه د نيټے نه دے مخکښ راشي) او بيا ئے د منکرينو خلود حالات د تخويف ذکر کړے دی -

يٰعِبَادِيَ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي
اے بندګانو زما هغه کسان چه ایمان ئې راوړی دے یقینًا زمکه (ملک) زما
وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِ ﴿۵۶﴾ كُلُّ
فراخه ده نو خاص ما له بندګی کوئ - هر
نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ ثُمَّ إِلَيْنَا
ساه والا څکونکے د مرګ دے بیا به خاص مونږ طرفته
تُرْجَعُونَ ﴿۵۷﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا
راګرځولے شئ تاسو- او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړی دے

هغه دا دی احاطه د جهنم، غشی د عذاب، د هر طرفه عذاب، ذوق د عذاب، او د دے پشان سورة اعراف ۴۱ کښ تیر شویدی.

۵۶:- خلاصه:- د دے آیت نه تر آخر د سورت پورے څلورم باب دے په دیکښ ذکر د ابتلاء بالهجرة دے په څلورو طریقو سره - بیا درے عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ مهاجرینو ته تسلی هم ده او په هر یو دلیل کښ څلور څلور څیزونه ذکر کړے دی بیا څلور زجرونه دی او اختتام دے په دعوای د سورت سره.

ربط:- هرکله چه د مشرکانو زجرونه او تخویفات ډیر ذکر شول نو هغوی د ضد او عناد د وجے نه په مؤمنانو باندے ډیر ظلم شروع کړو نو الله تعالی ترغیب د جواب ورکړو.

تفسیر:- په دے آیت ۵۶ کښ اوله طریقه د ترغیب الی الهجرة ده یعنی چه په یو ملک کښ ظلم وی د طرف د مشرکانو نه پابندی وی په اظهار د توحید او د طاعاتو باندے نو د هغه وطن نه هجرت کول فرض دی.
وطن پریخودل لازم دی لیکن دین پریخودل جائز نه دی.

إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ، په دیکښ اشاره ده چه په هجرت سره وسعت او فراخی حاصلیږی.

۵۷:- دا دویمه طریقه ده د ترغیب الی الهجرة یعنی د وطن او دوستانو

الصّٰلِحٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ

دَ ستت براِبرخامخا ځاے ورکوؤم دوی ته دَ جنت نه

غُرَفًا تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

بنګلے بهیږی په لاندے دَ هغې نه ولے

خٰلِدِیْنَ فِیْهَا ۭ نِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ ﴿٥٨﴾

همیشه به وی دوی په هغې کښ ښۀ دے ثواب دَ (داسے) عمل کوؤنکو.

الَّذِیْنَ صَبَرُوْا وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ ﴿٥٩﴾

هغه کسان چه صبر ئے کړیدے اوخاص په خپل رب باندے ځان سپاری -

وَكَاَیِّنْ مِّنْ دَآبَّةٍ لَّا تَحْمِلُ رِزْقَهَا

او ډیر ژندہ سر دی طاقت نه لری دَ روزئ پیداکولوځان لره

اَللّٰهُ یَرْزُقُهَا وَاِیَّاكُمْ ۡۖ وَهُوَ السَّمِیْعُ

الله تعالٰی روزی ورکوی هغوی ته او تاسو ته هم او هغه هرڅۀ آوری

وغیره نه هسے هم په مرګ سره بے اختیاره جدائی راتلونکے ده نو دَ هغې نه وړاندے دَ الله تعالٰی دَ دین دَ پاره په خپل اختیار سره جدائی اوکړه یعنی هجرت اوکړه داسے په سورة العمران ۱۸۵ کښ هم تیر شویدی -

۵۸ ، ۵۹ :- دا دریمه طریقه ده دَ ترغیب الی الهجرة یعنی بشارت خاصه دے په سبب دَ هجرت کولو ځکه چه اَلَّذِیْنَ صَبَرُوْا کښ صبر په تکالیفو دَ هجرت باندے داخل دے او دا رنګ وَعَلٰی رَبِّهِمْ یَتَوَکَّلُوْنَ، کښ ترک دَ اعتماد په وطن او په اهل وطن باندے داخل دے او غُرَفًا کښ اشاره ده که دَ دُنیا مکانونه په هجرت کولو سره پاتے شی نو په جنت کښ به اوچت مکانات حاصل شی-

الْعَلِيمُ ﴿٦٠﴾ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ

او په هر شه پاندې پوهه دے۔ او که چرے تپوس او کړے ته د دوی نه چه چا پیدا کړی دی

السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ

آسمانونه او زمکه او د خپل حکم لاندې کړی دی نمر

وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللّٰهُ ۚ فَأَنّٰى

او سپوږمۍ خامخا دوی به وائی الله تعالیٰ څه رنګه اړولے شی

يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ اَللّٰهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

دوی د حق نه۔ الله تعالیٰ فراخوی روزی

سلا:۔ دا څلورمه طریقه ده د ترغیب الی الهجرة یعنی دا وهم دیو مؤمن شخص ته کوی که چرے زۀ وطن نه لاړشم نو روزی به څه رنګ ملاویږی جواب ورکړے شو چه تولو بے طاقته ځناورو ته الله تعالیٰ روزی ورکوی نو مهاجر فی سبیل الله ته به ضرور ورکوی۔

سلا:۔ دا دلیل عقلی اعترافی دے د پاره د توحید او زجر دے مشرکانو ته او په یکښې څلور امور ذکر کړی دی او مناسبت د دے د ترغیب الی الهجرة د څلورمے طریقے سره دے یعنی روزی د الله تعالیٰ د طرفنه کیږی ځکه چه هغه خالق مدبر روزی تقسیم کوونکے او د روزئ اسباب پیدا کوونکے دے او دا صفتونه د هغۀ مشرکان هم منی۔ او په دے آیت کښې د رزق د پاره څلور اسباب ذکر کړے دی۔

اول السَّمٰوٰتِ، د آسمانونو نه تقدیر د رزقونو راځی او بارانونه ترے وریږی۔

دویم وَالْأَرْضَ، د دے نه بوټی راوځی د پاره د روزئ۔

دریم الشَّمْسَ، په دے سره میوے غلے پخیږی۔

څلورم وَالْقَمَرَ، په دے سره ترقی د بوټو راځی او رنګونه ئے هم بدلیږی۔

لِمَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ وَيَقْدِرُ لَهٗ ؕ

چا لره چه اوغواړی د بندګانو خپلو نه او تنګوی هغه لره،

اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۶۲﴾

یقیناً الله تعالی په هر څیز باندے علم لری۔

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ نَّزَّلَ مِنَ

اوکه چرے ته دوی نه تپوس اوکړے چه چا راورولے دی د

السَّمَآءِ مَآءً فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ

آسمان د طرف نه اوبه پس تازه کړیده په هغے سره زمکه

مِنْ بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

روستو د اوچ والی د هغے نه خامخا دوی به اوائی الله تعالی ته،

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ

ته اوایه ټول صفتونه د خدائی خاص الله تعالی لره دی، بلکه ډیر د دوی نه

لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۳﴾ وَمَا هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ ع

عقل نه لری۔ او نه دے دا ژوند دنیوی

۶۲:۔ دا دویم دلیل عقلی دے او دفع د وهم ده که څوک وهم اوکړی
چه خالق د روزئ الله تعالی دے لیکن فراخی او تنګسیا په د بل چا اختیار
کښ وی جواب اوشو چه دا هم د الله تعالی په اختیار کښ ده او په دے
دلیل کښ دوه څیزونه ذکر کړی دی بسط او قدر او دا نظام موقوف
دے په علم باندے نو ورپسے اوئیل اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ۔
۶۳:۔ دا دریم دلیل عقلی دے او اعترافی دے حاصل ئے دا دے
چه روزی او فراخی او تنګی د هغے په اختیار د الله تعالی کښ د دے وجے
نه ده چه اسباب د روزئ باران ورول او زمکه کښ قوتِ نباتیه پیدا
کول د الله تعالی په قدرت کښ دی۔ په دے دواړو آیاتونو کښ څلور

إِلَّا لَهْوٌ وَّلَعِبٌ ؕ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ

مگر مشغله ده او لوبے دی، او یقیناً کور روستنے

لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۘ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾

خامخا هغه ژوند پوره دے که چرے دوی پوهیدلے.

فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ

نو هر کله چه دوی سوارهٔ شی په کشتئ کښ نو بلی دوی الله تعالیٰ لره

مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ۚ فَلَمَّا

اخلاص کوی دَ هغهٔ په بلنه کښ نو هر کله چه

نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾

نجَ کړی دوی لره اوچے ته دغه وخت دوی شریک جوړوی دَ الله تعالیٰ.

خیزونه ذکر کړے دی او هر کله چه دَ رِزْقٌ تفصیل اوکړے شو چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے نو اختتام کښ ئے امر اوکړو په اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیلو سره اشاره ده چه په رزق استعمالولو سره حمد دَ الله تعالیٰ ضروری دے.

۶۴ :- دَ دے آیت نه تر ۶۸ پورے خلور زورنے ذکر کوی. په دے آیت کښ زورنه ورکوی دنیا پرستو خلقو ته چه دوی علم نه لری دَ دُنیا په فنا او دَ آخرت په بقا باندے.

ربط :- هر کله چه تیر شوے درے آیاتونو کښ دَ دنیا خیزونه ذکر کړل نو په دے سورت کښ ورته اشاره اوکړه په هٰذِهٖ سره.

لَهْوٌ، هغه خیز دے چه صِرف زړه مشغولوی یعنی په دے سره انسان دَ الله تعالیٰ دَ ذکر نه مشغولیږی، او لَعِبٌ هغه خیز دے چه بے فائده وی او زر فنا کیږی.

اَلْحَيَوَانُ، حیاة حقیقیه دا شمه چه فنا پرے نه راځی او غمونو او دردونو نه پاک وی.

۶۵، ۶۶ :- دا دویم زجر دے په شرک دَ دوی سره، سرهٔ دَ پوهے دَ دوی نه چه مصیبت لرے کوونکے الله تعالیٰ دے. او دا دلیل

لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا

(عاقبت دا) انکار اوکړی دوی د هغه نعمت چه مونږ دوی له ورکړی او دپاره د دے چه مزے واخلی

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا

پس زر دے چه دوی به پوهه شی۔ آیا دوی نه کوری چه

جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ

گرځولے دے مونږ حرم امن والا تختولے کیږی

النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِالْبَاطِلِ

خلق چاپیره د دے نه ، آیا په باطل معبود بانلے

يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾

یقین لری او د احسان د الله تعالیٰ ناشکری کوی۔

د جهل د دوی دے او هم دا سے تیرشوی په سورة یونس ۲۲ او سورة بنی اسرائیل ۲۷ کښ۔

او دا دلیل دے چه معرفت د رب په فطرت د هر انسان کښ ښتله دے۔

ربط :- هر کله چه مخکښ نعمتونه د روزئ ورکولو ذکر شول نو اوس زجر ورکوی د هغے په ناشکرئ کولو سره چه شرک کول دی۔

وَلِيَكْفُرُوا ، لام د عاقبت دے او دا متفرع دے په يُشْرِكُونَ بانلے۔

وَلِيَتَمَتَّعُوا ، دا تفریع ده په نَجَّاهُمْ بانلے۔

سکلا :- دا دریم زجر د دوی دے په ناشکرئ او شرک کولو سره لکه چه په وخت د لرے کیدلو د تکلیف کښ شرک کوی نو دا رنګ په باره د امن د مکه مکرمه کښ هم خپلو شرکاؤ ته نسبت کوی او شرک کوی۔

الْبَاطِلِ، مراد د دیته معبودان من دون الله دی چه مشرکین به د مکے د امن نسبت لات منات وغیره ته کوؤ۔ لکه اوس چه مشرکان د یو کلی یا علاقے د امن او برکاتو نسبت یو قبر والا (چه هغه کلی ته نزدے وی) ته کوی۔

وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ

او څوک ډیر ظالم دے د هغه چا نه چه جوړ وی په الله تعالی باندے

كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهٗ ؕ

دروغ یا د دروغو نسبت کوی حق ته هر کله چه راغے دوی ته،

اَلَیْسَ فِیْ جَهَنَّمَ مَثْوًی لِّلْكٰفِرِیْنَ ﴿۶۸﴾

آیا نشته په جهنم کښ ځائے د ډیره کیدو د پاره د کافرانو۔

وَالَّذِیْنَ جَاهَدُوْا فِیْنَا لَنَهْدِیَنَّهُمْ

او هغه کسان چه ځان کړی دی زموږ په رضا کښ خامخا ښایئم به دوی ته

سُبُلَنَا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۶۹﴾ ع

لارے زموږ، او یقینًا الله تعالی خاص ملګرے دے د ښائسته عمل کوونکو۔

---

۶۸ :- دا څلورم زجر دے۔ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا، یعنی شرک کوی او نسبت یئے الله تعالی ته کوی کله وائی لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا عَبَدْنَا او کله وائی وَاللّٰهُ اَمَرَنَا بِهَا۔

بِالْحَقِّ، نه مراد نبی صلی الله علیه وسلم او قرآن دے۔

۶۹ :- دا متعلق د ابتداء د سورت سره دے او بشارت دے هغه چا ته چه مخکښ ذکر کړے شوے فتنے او امتحانات یئے په ځان باندے تیر کړی دی۔

جَاهَدُوْا، نه مراد دغه تیر شوے کړاؤنه دی چه تیر کړی یئے دی۔

فِیْنَا، یعنی په لار د الله تعالی کښ یا د وجے د رضا د الله تعالی نه مراد تربنه اخلاص دے ځکه چه جهاد بغیر د اخلاص نه نهٔ قبلیږی۔

لَنَهْدِیَنَّهُمْ سُبُلَنَا، فضیل بن عیاض نقل کړے دی چه "چا ځان اوکړاؤ په طلب د علم د دین کښ په اخلاص سره نو او به ښایئم دوی ته طریقے د عمل کولو"۔

سهل بن عبد الله وئیلی دی چه "چا ځان اوکړاؤ په طاعت زموږ

کښې او په خاتم ورته لا ره د ثواب".
دریم دا چه چا ځان اوکړو په دعوت تبلیغ د دین کښې په اخلاص سره نو علم په ورکوؤ ده ته د دلیلونو د حق، او دا په تجربې سره هم ثابت ده چه داعی د حق ته الله تعالی الهام د حجتونو کوی۔

الْمُحْسِنِيْنَ، هغه کسان مراد دی چه عمل ئې اوکړو پس له سورت بانه لے۔

تَمَّ تفسیر سورة العنکبوت - وکذا اتم المجلس السادس بعونه تعالی وتوفیقه وکرمه - والحمد لله تعالی -

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

تفسیر

احسن الکلام

پښتو

للشيخ ابي زبير عبد السلام الرستمي حفظه الله

از سورة روم تا سورة جاثيه

جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة

بهدبیر پشاور پاکستان

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ

تفسیر

احسن الکلام

بِلُغَةِ الْبَشْتُو

لِلشَّيْخِ أَبِي زَكَرِيَّا عَبْدِ السَّلَامِ الرُّسْتَمِي

الجزء السّابع

(اووم جزء)

از سورة روم تا سورة جاثيه

النّاشر:
جَامِعَة عَرَبِيَّة لِإِشَاعَةِ التَّوْحِيدِ وَالسُّنَّة
بډه بېر - پښاور

فهرس مضامين تفسير احسن الكلام جلد ووم [٧]



سورة الروم ۳۰ مکیة ۸۴ — بسم الله الرحمن الرحیم — ایاتها ۶۰ — رکوعاتها ۶

الٓمّٓ ﴿۱﴾ غُلِبَتِ الرُّومُ ﴿۲﴾ فِیٓ اَدْنَی الْاَرْضِ

الله تعالیٰ پوهیږی ددی په مراد باندی. کمزوری کړی شول رومیان په نزدی د زمکی کښی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سورة روم

ربط ددی سورت د مخکښ سورت سره په یوڅو وجو سره دی.
اوله وجه داده چه مخکښ سورت کښ د صحیح جهاد ذکر اوشو نو په دی کښ د هغی نتیجه ذکر کوی چه هغه انقلاب دی. دویمه وجه داده چه تیر شوی سورت کښ ترغیب وو جهاد ته نو په دی سورت کښ بشارت دی په نصرت د الله تعالیٰ سره. دریمه وجه داده چه په هغه سورت کښ مسئله د جهاد وه د پاره د توحید نو په دی سورت کښ اثبات د توحید دی په ډیرو عقلی دلیلونو سره.

دعویٰ ددی سورت وعده ده د امداد د الله تعالیٰ د توحید والو سره په انقلاب راوستلو سره. او اثبات د دی د دعوی په مثال د رومیانو سره دی او په دلیلونو د قدرت د الله تعالیٰ په انقلاب د حالاتو باندی. او دارنګ اثبات د توحید دی په عقلی دلیلونو سره او په ذکر د یو مثال سره او په رد د اقسامو د شرک سره، شرک په تصرف کښ او په دعاء کښ اورد په شفاعت قهریه باندی.

خلاصه د سورت دا سورت تقسیم دی دری بابونو ته. اول باب تر ۱۹ پوری دی په دی کښ اول مثال ذکر کوی په غلبه د رومیانو په فارس والو باندی روستو د مغلوب کیدلو نه بیا دعویٰ د سورت ده تر ۵ پوری بیا څلور زجرونه دی اول په ۷ علمی د دوی په ۷ کښ دویم په غفلت سره د اخرت نه په ۷ کښ دریم په انکار د بعث بعد الموت سره په ۸ کښ سره د دلیل عقلی نه څلورم په ظلم سره په خپلو ځانونو باندی په ۹ کښ سره د تخویف دنیوی نه، او تخویف اخروی دی په ۱۰ ۱۱ ۱۲ ۱۳ ۱۴ ۱۶ کښ او دلیل عقلی په ۱۱ کښ او بشارت اخرویه دی په ۱۵ کښ بیا ذکر د تسبیح او د حمد دی (چه دا توحید دی) د پاره د حاصلولو د نصرت د الله تعالیٰ چه دعویٰ د سورت ده په ۱۷ ۱۸ کښ

وَهُمْ مِّنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُوْنَ ﴿٣﴾ فِیْ

او دوی په روستو دَ کمزورے کیدلو دَ دوی نه زر دَه چه غالب شی په

تفسیر

سل:۔ دا دَ مقطعاتو نه دے دلیل دے په اعجاز دَ قران باندے۔
سـ۲ سـ۳:۔ دا مثال دے دَپاره دَ دعوے دَ سورت دَپاره دَ تسلیٔ دَ مؤمنانو، او دَ فارس او دَ روم جنگ ته اشاره ده. تفصیل ئے دا دے چه په زمانه دَ نزولِ قران کښ په دنیا کښ دا دوه بادشاهئ وے چه ډیرلوے مملکتونه وو۔ یو فارس وؤ دَ هغوی بادشاه ته په کسریٰ ویلے کیدلو او هغه وخت ایران، افغانستان او اکثر مشرقی ملکونو باندے دَ دوی بادشاهی وه او دوی مجوسیان وو، او مجوسیان کتابیان نه دی بلکه دَ اُور او رنړا او دَ نمر، سپوږمئ، ستورو وغیرو عبادتونه کوی او امیین دی دوی پشان دَ مشرکینِ عرب وو۔ دویم روم وؤ چه دَ هغوی بادشاه ته په هرقل ویلے کیدلو اکثر مغربی ملکونه تر شام پورے دَ دوی دَ بادشاهئ دَ لاندے وو او دوی نصاریٰ اهلِ کتاب وو دَ دے دواړو په مینځ کښ به اکثر وخت جنګونه وو لیکن یو وخت دَ فارس بادشاه چه نوم ئے ساپور وؤ دَ جنګ دَ رومیانو دَپاره لوے لښکر اولیږلو او لوے جنګ اوکړے شو چه په هغے کښ رومیان کمزوری شول او فارس والو دَ هغوی نه دَ شام علاقه اذرعات بصریٰ او بلاد جزیره باندے غلبه اوکړله رومیان صرف روم او قسطنطنیه علاقے ته غونډ شول. دا خبر چه مشرکانِ مکّه واؤریدلو نو هغوی ډیر خوشحاله شول او دَ مکّے دَ مؤمنانو خلاف ئے پراپیګنډے شورد کړے، او ویل ئے چه زمونږ رونړه ستاسو په رونړو باندے غالب شول نو نزدے ده چه مونږ به هم په تاسو باندے غالب شو او ستاسو دین به ختم کړو او مؤمنان پدے باندے ډیرخفه شول نو دَ دوی دَ تسلیٔ دَپاره دا ایاتونه نازل شول ۔حاصل دا وو چه رومیان اګرچه اوس مغلوب شول لیکن لږ وخت روستو به غالب شی او دغسے اوشوه څکه اووه کاله روستو بیا لوے جنګ اوکړے شو او رومیان غالب شول په فارس والو باندے او دَ دوی دَ غلبے ورځ هغه وه چه مؤمنان په غزوه دَ بدر کښ په مشرکینِ مکّه باندے غالب شول نو په مشرکانو باندے دوه خفګانونه راغلل او په مؤمنانو باندے دوه خوشحالئ راغلے۔

فائده ۱: دا ښکاره دلیل دے چه قران رښتنے کتاب دَ الله تعالیٰ دے څکه دا دَ غیبو خبرے ئے ورکړے وؤ۔ او هغه رښتیا واقع شو۔

بِضْعِ سِنِيْنَ ۗ لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ

بو څو	کلونو	کښ	خاص الله تعالیٰ لره پوره اختیار دے	مخکښ

وَمِنْۢ بَعْدُ ۭ وَيَوْمَىِٕذٍ يَّفْرَحُ

او	روستو	او په دغه ورځ به	خوشحاله شی

الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ بِنَصْرِ اللّٰهِ ۭ يَنْصُرُ

مؤمنان	په امداد دَ الله تعالیٰ	سره امداد کوی

فائده ع۲ دا رنګ دا دلیل شو په صداقت دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم باندے. **ع۳** معلومه شوه چه الله تعالیٰ په دنیا کښ دَ کافرانو سره امداد کوی دَ پاره دَ امتحان **ع۴** او الله تعالیٰ دَ بادشاهو انقلابات راولی. **ع۵** او معلومه شوه چه تاریخ دَ قومونو او جغرافیا (چه هغے ته حاضر العالم ویلے کیږی) دَ علمونو دَ قرآن دَ فهم سره تعلق لری **ع۶** او معلومه شو چه نصرانی کافر چه دَ الله تعالیٰ دَ وجود او دَ توحید اقرار کوی اګر چه نور وجوه دَ کفر په هغهٔ کښ شته خو هغهٔ په دشمنیٔ کښ کم دے دَ هغهٔ کافرانو چه غیر کتابی دے او دَ الله تعالیٰ دَ وجود نه منکر وی یا دَ توحید دَ لفظ نه هم منکر وی او سخت عنادی او متعصب وی لکه دهریان کمیونسټ او یهودیان وغیره.

تشریح روم بن عیص بن اسحاقؑ بن ابراهیم علیه السلام سره مشهور دی نو معلومه شوه چه دوی دَ اولاد دَ یعقوب بن اسحاق علیهما السّلام (چه هغوی ته بنی اسرائیل ویلے کیږی) ترېوران دی. فِیْٓ اَدْنَی الْاَرْضِ یعنی دَ رومیانو هغه زمکه (ملک) چه عربو ته نزدے وه په نسبت دَ فارس چه هغهٔ شام او بصریٰ وغیره ده. غَلَبِهِمْ دا مصدر مبنی للمفعول دے یعنی مَغْلُوْبِیَّتِهِمْ یا عبارت کښ تقدیر دے غلبة فارس علیهم.

سک :- بِضْعَ دَ عربیٔ په محاوره کښ دَ دریو نه تر نهه یا لسو پورے عدد ته ویلے کیږی. دَ دے وجے نه مفسرینو دَ ابوبکر رضی الله عنه دَ أُبی بن خلف الجمحی سره کومه واقعه چه ذکر کړے ده نو په هغے ابوبکر رضی الله عنه اول درے کاله پورے شرط لګولے وو نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم او فرمائیل چه دَ بِضْعَ اطلاق دَ دریو نه تر نهه پورے دے نو دَ اووه کالو شرط یٔے اولګوهٔ چنانچه غلبه دَ روم دَ دے ایت دَ نزول نه اووه کاله روستو حاصل شوه (یا نے په بل مخ)

مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ۝۵

هغه چا سره چه اوغواړی او خاص هغه زورآور او رحم والا دے

وَعْدَ اللّٰهِ ۭ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ

وعده کړے ده الله تعالیٰ وعده خلاف نه کوی الله تعالیٰ دَ وعدے خپلے نه

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۶

او لیکن ډیر خلق نه پوهیږی

فایده: یو شبه کړے شویده چه ابوبکرؓ چه په کومے طریقے شرط لګولے وُ داخو قمار (جواری) وُ۔ جواب داد ے چه دا په هغه وخت کښ جائز وُ، بیا منسوخ شویدے دا رنګ دَ قتاده نه روایت دے او چا چه ویلے دی چه دا عقد په دارِ حرب کښ دَ کافرانو سره وُ او داسے عقود فاسده او ربٰو وغیره دَ امام ابوحنیفه رحمة الله تعالیٰ په مذهب کښ په دارِ حرب کښ دَ کافرانو سره جائز دی دا قول صحیح نه دے۔ لِلّٰهِ الْاَمْرُ دلته مراد اختیار دَ غلبے او دَ مغلوبیت دے او دا کلمه دَ توحید ده چه اختیار متدواکدار صرف یو الله تعالیٰ دے۔ مِنْ قَبْلُ مخکښ دَ غلبے دَ رومیانو نه۔ وَمِنْ بَعْدُ روستو دَ غلبے دَ رومیانو نه۔ وَيَوْمَئِذٍ يَّفْرَحُ الْمُؤْمِنُوْنَ، دا بشارت دے مؤمنانو (صحابه کرامو) ته او په دیکښ بله معجزه ده چه الله تعالیٰ دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په واسطے سره اووَه کاله روانده دَ بدر په ورځ دَ مؤمنانو دَ خوشحالئ خبر ورکړے وُ او هغه صحیح ښکاره شو۔

سـ۵: دائے چه ایت کښ ذکر کړو اشاره ده چه دلته اوله خوشحالی دَ رومیانو په غالب کیدلو سره ده اګرچه هغے ته مدد دَ الله تعالیٰ ته ویلے کیږی دَ دے وجے نه هغے دَ پاره صرف لِلّٰهِ الْاَمْرِ ذکر کړے وُ او بِنَصْرِ اللّٰهِ سره خوشحالی دَ ورځ دَ بدر مراد ده او هغه په نصرت دَ الله تعالیٰ سره وُ، او په دے ایت کښ دعویٰ دَ سورت ده۔

سـ۶: دا تاکید دَ مخکښ بشارت دے وَعْدَ اللّٰهِ ته روانده فعل پټ دے وعد هم الله وعدا۔ لَا يُخْلِفُ اللّٰهُ وَعْدَهٗ دا صفتِ سلبیه دَ الله تعالیٰ دے۔ لَا يَعْلَمُوْنَ مراد دَ دے نه منکرین دَ مدد دَ الله تعالیٰ دی چه هغوی دا انقلابات الله تعالیٰ ته نسبت هم نه کوی۔ او په دے کښ زجر دے په عدم دَ علم سره۔

يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

پوهیږي دوی ښکاره په ژوند دَ دُنیا

وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٧

او دوی دَ آخرت نه دوی بے پرواه دی ۔

اَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ۗ

آیا دوی سوچ نه کوی په خپلو ځانونو کښې ،

مَا خَلَقَ اللّٰهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

نه دی پیدا کړی الله تعالٰی آسمانو نه او زمکه

وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ

او هغه چه په مینځ دَ دوی کښې دی مګر په حق سره او په نیټه

مُّسَمًّى ۗ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ

مقرر سره او یقینًا ډیر دَ خلقو نه

بِلِقَآئِ رَبِّهِمْ لَكٰفِرُوْنَ ۝٨ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا

دَ ملاقات دَ رب خپل نه ضرور منکران دی ۔ آیا او دوی نه ګرځی

ک :۔ دا دریم زجر دے په علمونو او تجرباتو دَ دنیا سره یعنی دَ کسبونو او تجارتونو او دَ زمینداری او دَ آبادئ وغیره دَ دنیا په کارونو کښې ډیره تجربه لری او دا رنګ دَ دنیا په غلط سیاستونو کښې ښه پوهه دی ۔ دَ حسن بصری نه تفسیر سراج المنیر کښې نقل کړے دی چه بعضِ انسان یو روپئ په لاس کښې اونیسی نو دَ هغې صحیح وزن معلوم کړی لیکن مونځ ورله نه ورځی ۔ وَهُمْ عَنِ الْاٰخِرَةِ هُمْ غٰفِلُوْنَ دا دریم زجر دے په غفلت دَ آخرت نه ۔

۸ :۔ دا څلورم زجر دے په انکار دَ توحید او دَ بعث بعد الموت نه په سبب دَ بے فکره کیدلو سره ۔ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ دَدے دوه معنے دی اوله معنٰی دا چه انفس نه مراد زړونه دی او محل دَ فکر کولو زړه دے ، او متفکر فیه مَا خَلَقَ اللّٰهُ الخ دے ۔ دویمه معنٰی دا ده چه متفکر فیه اَنْفُسِهِمْ دے یعنی په احوالو دَ خپلو ځانونو کښې فکر نه کوی لکه چه سورة ذاریات ۲۱ کښې ذکر دی (پاتے په بل مخ)

فِی الْاَرْضِ فَیَنْظُرُوْا كَیْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په زمکه کښې نو چه اوګوري چه څه رنګ وو انجام

الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْؕ كَانُوْۤا اَشَدَّ

دَهغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښې وو هغوی ډیر کلک

مِنْهُمْ قُوَّةً وَّ اَثَارُوا الْاَرْضَ وَ عَمَرُوْهَاۤ

دَ دوی نه طاقت والا وو او زمکه یې اړولے ده او اباده کړے وه زمکه

اَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوْهَا وَ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ

زیاته دَ هغې نه چه دوی اباده کړے ده او راغلي وو دوی ته رسولان

بِالْبَیِّنٰتِؕ فَمَا كَانَ اللّٰهُ لِیَظْلِمَهُمْ

په ښکاره دلیلونو سره نو نۀ وُو الله تعالٰی چه په دوی باندے ظلم کړے وے

وَ لٰكِنْ كَانُوْۤا اَنْفُسَهُمْ یَظْلِمُوْنَؕ ⑨

او لیکن دوی په خپلو ځانونو باندے ظلم کوؤ۔

نو مَاخَلَقَ اللّٰهُ اه دا نتیجه دَ فکر ده. اِلَّا بِالْحَقِّ یعنی دَحق ښکاره کولو دَپاره، اومراد ترینه توحید دے۔ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى مراد دَ دے نه فنا دَ دے عالم ده چه په هغې پسے بعث بعد الموت دے او دا رنګ په احقاف ۳ کښې هم دی۔ وَاِنَّ كَثِیْرًا اه په دے کښې تخم زجر دے په انکار دَ قیامت سره۔

فائده:۔ په ۸ کښې یې اَكْثَرَ النَّاسِ ذکر کړو او په دے ایت کښې یې كَثِیْرًا ذکر کړو، یو وجه دا ده چه بے علمه او دُنیا پرست ډیر زیات خلق دی لیکن دَ قیامت منکران دَ هغوی په نسبت سره لږ دی دویم وجه داده چه پړوانده دَ دلیل ذکر کولو ته اکثر خلق منکروی اودَ دلیل ذکر کولو نه روستو بیا منکرین دَ مخکښې په نسبت سره لږ کم شي۔

۹:۔ دا شپږم زجر دے او تخویف دنیوی دے په ذکر دَ عذابونو دَ تیر شوؤ قومونو سره۔ او دا رنګ په حٰمٓ مؤمن ۲۱ ۸۳ کښې هم دی. فَیَنْظُرُوْا ته معلومه شوه چه سیل کول په ملکونو کښې دَپاره دَ عبرت اخستلو عبادت دے۔ بیا دَ تیر شوؤ قومونو پنځه حالتونه یې ذکر کړے دی اول كَانُوْۤا اَشَدَّ مِنْهُمْ یعنی بدنونه او قدونو قامت کښې مضبوط وؤ دویم وَاَثَارُوا الْاَرْضَ یعنی په فصلونو کرلو

ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِيْنَ اَسَآءُوا السُّوْٓاٰى

بيا شو انجام د هغه چا چه بدے ئے کړے دے تا کاره

اَنْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَكَانُوْا بِهَا يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾ ع

(ځکه چه) دروغژن ئے گڼلے وو ایاتونه د الله تعالیٰ او دوی وو چه په هغے پورے توقے کولے.

اَللّٰهُ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ثُمَّ اِلَيْهِ

الله تعالیٰ اول پیدائش کوی بیا به دوباره هم کوی بیا به خاص هغه ته

تُرْجَعُوْنَ ﴿١١﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُبْلِسُ

واپس کړے شئ تاسو. او په هغه ورځ چه قیامت به قائم شی نا امیده به شی

الْمُجْرِمُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ مِّنْ

مجرمان. او نه به وی دوی لره د

او د زمکے نه معدنیات راویستلو کښ ډیر مشغول وو درېم وَعَمَرُوْهَا په اباد وکولو کښ ډیر مصروف وو یعنی دنیا پرست وو او دُنیا وی کارونو کښ ترقی کول ئے کمال گڼړلو. خلورم وَجَآءَتْهُمْ یعنی الله تعالیٰ د دوی د خبر ورکولو د پاره ډیر رسولان لیږلے وو د پاره د دے چه دین الٰهی ته ئے توجه پیدا شی. پنځم وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ یعنی کفر او شرک او بدعات او نور گناهونه ئے کول او دا په ځان باندے ظلم کول دی ځکه د دے په وجه باندے د دُنیا دغه نعمتونه ئے برباد شول او دوی هلاک شول.

سلا. دا تخویف اخروی دے هر کله چه عَاقِبَةَ خبر د كَانَ شی او السُّوْٓاٰى اسم د كان شی یعنی العقوبة التی اسوء السیئات، یا نوم د جهنّم دے. او اَنْ كَذَّبُوْا کښ باء پټ وی یعنی بان کذبوا. او که چرے السُّوْٓاٰى مفعول مطلق شی د اَسَآءُوْا د پاره او اَنْ كَذَّبُوْا اسم شی د كَانَ د پاره یعنی تکذیب او استهزاء نتیجه شوه د نورو سیئاتو د پاره نو بیا په دے احتمال سره دا ایت تفسیر دے د اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ د پاره.

سلا:. دا مختصر دلیل عقلی دے او دا متعلق دے د ک سره او اثبات د دوباره ژوندا دے.

سلا:. دا تخویف اخروی دے هر کله چه اعاده ذکر شوه نو اوس په دے ایاتونو کښ تفصیل د قیامت ذکر کوی. او د سلا پورے د مجرمانو بنخه خلاف ذکر کوی. ابلاس ویلے کیږی چپ کیدل او حیرانتیدل ریاتے په یل مخ)

شُرَكَآئِهِمْ شُفَعٰٓؤُا وَكَانُوْا بِشُرَكَآئِهِمْ

شریکانو دَدوی نه سفارشیان او شی په دوی دَ شریکانو نه

كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ

منکران . او هغه ورځ چه قیامت قائم شی

يَوْمَئِذٍ يَّتَفَرَّقُوْنَ ﴿۱۴﴾ فَاَمَّا الَّذِيْنَ

په دغه ورځ به دوی جدا جدا شی . نو هغه کسان چه

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَهُمْ فِيْ

ایمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړے په طریقه دَ نبی نو دوی به په

رَوْضَةٍ يُّحْبَرُوْنَ ﴿۱۵﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

باغچو کښ وی خوشحالولے به شی . او هغه کسان چه کفر ئې کړے دے

دَ وجے دَ بے دلیل کیدلو نه او مراد دَ دے نه ناامید کیدل دی دَ هر خیر نه یا ناامید کیدل دَ خپلو شرکاؤ دَ مداد کولو نه۔

۱۳:۔ دا هم تخویف کښ داخل دے او رد دَ شفاعتِ قهریه شرکیه دے او جواب دَ سوال دے، که اُولیے شی چه دوی به چپ شی خو دَ دوی معبودان به دَ دوی دَ پاره خبرے کوی او شفاعت به کوی نو دَ هغے رد ئې اوکړو. وَكَانُوْا دا نتیجه دَ انکار دَ معبودانو دَ دوی ده دَ شفاعت کولو نه یعنی هر کله چه هغوی دَ دوی دَ شفاعت نه عاجز شی نو دا مشرکان به دَ هغوی دَ معبودیت نه منکر شی. دویم معنیٰ داده چه وَكَانُوْا دَ دنیا حال دے یعنی دوی به دنیا کښ دَ شرکاؤ دَ عبادت په سبب سره کافر شویوو۔

۱۴:۔ دا هم داخل دے په تخویف کښ یعنی روستو دَ ناامیده کیدلو نه به تفرق دَ یو بل نه اوکړی۔

۱۵:۔ دا بیان دَ تفرق او دَ جدائی دے او په دے ایت کښ بشارت دے مؤمنانو ته۔ رَوْضَةٍ په عرف دَ عرب کښ هغه زمکه وه چه ډیره فراخه وی او ډیرے اوبه او تازه شنه بوټی پکښ وی يُحْبَرُوْنَ، درے معانی دی ۱۔ عزت به ورکیدے شی۔ ۲۔ نعمتونه به ورکیدے شی، ۳۔ خوشحالی به ورکیدے شی، په دے کښ دَ جنت ټول نعمتونه داخل دی۔

وَكَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ فَاُولٰٓئِكَ

او دروغژن گڼړی ایاتونه زمونږ او ملاقات د آخرت نو دغه کسان په

فِي الْعَذَابِ مُحْضَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ

په عذاب کښ حاضر کړے شی۔ نو پاکی وایئ د الله تعالیٰ

حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَلَهُ الْحَمْدُ

کوم وخت چه بیگاه کوئ او کوم وخت چه صبا کوئ۔ او خاص هغه لره ستائینه

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَعَشِيًّا وَّحِيْنَ

(خدائی ده) په اسمانونو او زمکه کښ او په مازیگری کښ او کوم وخت چه

سلا :۔ دا تخویف د منکرینو دے او په دے کښ د دوی درے جرمونه ذکر کړیږی۔ ۱۔ کفر تمام شرکیاتو ته شامل دے، ۲۔ تکذیب انکار د نقلو دلیلونو شرعیو ته عام دے ۳۔ وَلِقَآئِ الْاٰخِرَةِ انکار د آخرت مراد دے۔

سکا سلا :۔ دا تفریع ده په دعویٰ د سورت باندے او دا دعویٰ د توحید ده یعنی هر کله چه الله تعالیٰ ستاسو نصرت کوی نو تسبیح وایئ لکه چه سورة نصر کښ هم ذکر دی یا دا بیان د سبب دے د پاره د حصول د دعوے د سورت یعنی په توحید د الله تعالیٰ سره نصرت او مدد الٰهی حاصلیگی۔ په دے ایاتونو کښ تسبیح او حمد نه مراد سره د قول نه عمل د هغې دے په طریقه د مونځ کولو سره ځکه مونځ کښ تسبیح او حمد قولاً او عملاً دی او د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت سره په دے ایاتونو کښ د پنځو وختونو د مونځ ذکر دے۔ تُمْسُوْنَ کښ ماښام او ماسخوتن داخل دے او تُصْبِحُوْنَ کښ مونځ د صبا داخل دے۔ عَشِيًّا کښ د مازیگر مونځ داخل دے او تُظْهِرُوْنَ کښ مونځ د ماپښین داخل دے۔ **فائده** هر کله چه اذکار مسنونه کښ تسبیح مخکښ ده د حمد نه نو دلته ئې هم تسبیح مقدم کړیده په حمد باندے او هر کله چه توحید په لفظ د تسبیح سره نه کامل کیږی نو د دے وجے حمد ئې ورسره ذکر کړو۔

فائده ۱ :۔ هر کله چه بیگائی او صبائی وخت کښ تیاره وی او تیاره کښ نقصان وی نو د هغې سره تسبیح مناسب ده یعنی الله تعالیٰ د هر نقصان نه پاک دے او مازیگر او ماپښین کښ رڼا وی او رڼا کمال دے نو د هغې سره حمد مناسب دے۔

فائده ۲ :۔ هر کله چه بیگاه او صبا او ماپښین کښ ښکاره راتے په یل مخ)

تَظْهِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ

ماسپخین کوئے تاسو . را او باسی الله تعالیٰ ژوندی لره دَ مړی نه

وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِ الْأَرْضَ

او را او باسی مړ لره دَ ژوندی نه او تازه کوی زمکه

بَعْدَ مَوْتِهَا ۗ وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ ﴿۱۹﴾ ع

روستو دَ اوچیدلو نه ، او دغسے په راوبستلے کیدلے شئ تاسو .

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ

او بعض دَ دلیلونو دَ توحید او قدرت دَ الله تعالیٰ نه دا چه پیدا ئیش یې شروع کړے دے ستاسو دَ خاورے نه

ثُمَّ اِذَآ اَنْتُمْ بَشَرٌ تَنْتَشِرُوْنَ ﴿۲۰﴾

بیا شوئ تاسو بشر ډیر خواره واره شوئے .

اختلاف دے دَ یو حال نه بل ته نقل کیدل دَ تورے حالت پیدا کیدل دَ دے وجے نه تُمْسُوْنَ تُصْبِحُوْنَ، تُظْهِرُوْنَ یې په صیغه دَ فعل سره ذکر کړو چه دَ پاره دَ تجدّد (نوے والی راځي) او دَ ظهر او دَ عشی (ماز یګر) په مینځ کښ زیات فرق نیشته دَ وخت په لحاظ سره نو دَ دے وجے نه هغه یې عَشِيًّا سره اسم ذکر کړو (والله اعلم).

سل۱۹ :- دَ دے ایت نه دویم باب دے تر سل۲۷ پورے په دے کښ یوولس عقلی دلیلونه ذکر کوی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید او دا شواهد دی دَ پاره دَ دعوے دَ سورت. او په دے کښ مثال دے دَ پاره دَ رد دَ شرک. بیا یې اصول ذکر کړے دی دَ پاره دَ حصول دَ دعوے دَ سورت او په مینځ دَ اصولو کښ دَ مشرکانو اووه قبائح یې ذکر کړے دی او دَ هغوی تحذیر ذکر کوی او فرق ذکر کوی دَ ربٰو او دَ زکوٰة . او تخویف دنیوی او دَ هغې اسباب یې ذکر کړیدی.

دا سل۱ دلیل عقلی دے دَ پاره دَ اثبات دَ توحید چه په تیر شوی ایا تو کښ ذکر شو په دے کښ او دَ دے نه روستو دلیلونو کښ انقلاب دَ حالاتو ذکر کوی اشاره ده اثبات دَ دعوے دَ سورت ته. په دے ایت کښ یې درے احوال انقلابیه ذکر کړیدی او څلورم انقلاب کښ ذکر دَ قیامت دے.

سل۲ :- دا بل دلیل عقلی دے دَ دواړو مقصدونو دَ پاره . مِنْ تُرَابٍ مراد دَ دے نه پیدائش دَ آدم علیه السلام دے دَ خاورو نه او معنیٰ دَ خَلَقَكُمْ ، خلق اصلکم یا مراد دَ دے نه هر انسان دے ځکه چه هر انسان دَ نطفے نه پیدا دے او نطفه دَ خوراک نه

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِّنْ

او بعض د دلیلونو د توحید او قدرت د هغه نه دا چه پیدا کړیدی تاسو لره ستاسو د

اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوْٓا اِلَيْهَا

جنس نه ‏ ‏ بیبیانے د پاره د دے چه ارام حاصل کړئ هغوی ته

وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَّوَدَّةً وَّرَحْمَةً ۭ اِنَّ

او پیدا کړے ده ستاسو په مینځ کښ مینه ‏ ‏ او ترس کول ‏ ‏ یقینًا

فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

په دے کښ ډیر دلیلونه دی د هغه قوم د پاره چه سوچ کوی۔

پیدا کیږی او خوراکونه د زمکے نه پیدا کیږی او دا سے په سورة حج سے کښ هم تیر شویدی. ثُمَّ اِذَآ دا اِذَآ د مفاجات د پاره دے او دا اکثر د فاء سره مستعملیږی لیکن دلته ئے ثُمَّ راوړیدے ځکه چه د تراب نه روستو نورو احوالو او اطوارو ته اشاره ده چه هغه نطفه علقه مضغه وغیره دی لکه چه سورة حج سے او مومنون سلا کښ تیر شویدی. تَنْتَشِرُوْنَ په دے کښ معنیٰ د ظهور (ښکاره کیدلو ده) یعنی خاورو کښ پټ وے نو الله تعالیٰ ښکاره کړئ۔

فائده :- په دے سورة کښ د اووه ایاتونو په اول کښ وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ ذکر کړیدے د دے یو وجه دا ده چه دغه دلیلونه په مدعا ثابتولو کښ ښه واضح دی. دویمه وجه دا ده چه هر یو د هغے نه په حقیقت کښ په ډیرو دلیلونو باندے مشتمل دے او هرکله چه اکثر په دغه ایاتونو کښ د سورت د واړه مقصدونه ښکاره وو نو د دے وجے نه په اول د ایت او په اخر د هغے کښ لفظ د ایاتو ئے دوه کرته ذکر کړیدے۔

سلا :- دا یل دلیل عقلی دے. هرکله چه تیر شوی ایت کښ ماده د پیدائش اصلی ذکر شوه نو په دے ایت کښ ماده د پیدائش ظاهری ذکر کوی او دا رنګ اوّل ایت دلیل د ایجاد د بشر دے نو دا ایت دلیل دے د بقا (یعنی سلسله د بشر د قیامت پورے ده) ‏ ‏ ۔ او اَنْفُسِكُمْ په معنیٰ د هم جنس سره دے۔ لِتَسْكُنُوْٓا دا سے حکمت ئے په سورة اعراف کښ هم ذکر کړے او دا دلیل دے چه د بشر نکاح د جن سره نه کیږی۔ مَوَدَّةً د زړه میلان او محبت ته وائی وَرَحْمَةً د مینے د وجے نه د بل په مصیبت باندے خفه کیدل او خوشحالے باندے خوشحاله کیدل۔ دے ته شفقت هم وائی

وَمِنْ اٰيٰتِهٖ خَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

او بعض د دليلونو د هغه نه پيدائش د اسمانونو او د زمکې دے

وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ وَاَلْوَانِكُمْ ۚ اِنَّ فِيْ

او جدا والے د ژبو ستاسو او د رنګونو ستاسو دے يقينًا په

ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّلْعٰلِمِيْنَ ﴿۲۲﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ

دے کښې ډير دليلونه دی پوهه لرونکو لره. او بعض د دليلونو د هغه نه

مَنَامُكُمْ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَابْتِغَآؤُكُمْ

خوب کول ستاسو دی د شپې او د ورځې او لټول ستاسو دی

مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

د فضل د هغه نه، يقينًا په دے کښې ډير دليلونه دی

۲۲:۔ دا هم دليل عقلی دے د پاره د دوارو مقصدونو. تير شوی دليلونه انفسی وو او دا افاقی دليل دے. خَلْقُ السَّمٰوٰتِ نه مراد د هغې اوچت والے، مضبوط والے، بے ستنو او دريدل، نه چودل او نه راغورځيدل وغيره دی. وَالْاَرْضِ د دے نه مراد د هغې وسعت دے يعنی مختلف رنګونه مختلف صفتونه چه په هغې باندے غرونه، تهرونه، جنګلات وغيره دی.

وَاخْتِلَافُ اَلْسِنَتِكُمْ، عربی او عجمی او په هغې کښې ډير قسمونه او مختلف اوازونه لهجې، فصاحت بلاغت او په هغې کښې مختلف مرتبې، تر دے پورے چه دوه تنه په داسے او نه مومے چه په دے ټولو اوصافو کښې يو شان دی.

وَاَلْوَانِكُمْ سپين، سور، تور وغيره او مختلف مخونه او سترګے پوزه وغيره هيڅ دوه کسان په داسے ملاؤ نشی چه په صورت کښې پوره پوره برابر وی. او د دے دوارو اختلافونو يو حکمت دا دے چه انسان په دے سره د اشخاصو تميز اوکړی د خپل پردی او د دوست دشمن نو چه لرے وی يا غائب وی نو جدائی کيدے شی په اواز سره او چه مخامخ شی نو جدائی کيدے شی په شکل او صورت سره.

لِّقَوْمٍ يَّسْمَعُوْنَ ﴿۲۳﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖ يُرِيْكُمُ

هغه قوم لره چه غوږ بدی. او بعض د دلیلونو د هغه دا چه ښائي تاسو ته

الْبَرْقَ خَوْفًا وَّطَمَعًا وَّيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ

برېښنا د ډیرے او طمع نه او وروی د طرف د آسمان نه

مَآءً فَيُحْيٖ بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ؕ

باران نو تازه کوی په هغے سره زمکه روستو د اوچیدلو د هغے نه.

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۴﴾

یقینًا په دے کښ ډیر دلیلونه دی د پاره د هغه قوم چه عقل لری.

س۲۳ دا بل دلیل عقلی دے، انفسی دے چه متعلق دے د زمانیانو سره چه شپه او ورځ ده او هر کله چه د شپے خوب زیات وی په خوب د ورځے باندے د دے وجے نه اللیل ئے مخکښ کړو په النهار باندے. او هر کله چه کسب او طلب د فضل (د روزئ او د علم) په شپه او ورځ دواړو کښ کیږی نو هغه ئے عام ذکر کړے دے.

س۲۴: دا بل دلیل عقلی دے هر کله چه مخکښ ئے عوارض انفسیه ذکر کړل نو په دے دلیل کښ عوارض آفاقیه ذکر کوی چه هغه برق او باران دے. هر کله چه لیدل د برق د باران نه اکثر روانے وی د دے د پاره چه بعض خلق د باران نه د بچ کیدلو انتظام اوکړی د ویرے د وجے نه او دا سے خلق ډیر وی او بعض خلق (زمیندارن) او بو د باران نه زمکه او ورخوته برابر کړی د طمع د وجے نه. د دے وجے نه برق ئے په باران باندے او خوف ئے په طمع باندے مخکښ کړو.

فائده:- د دے څلورو آیاتونو په حواصلو کښ تنزل دے د اعلیٰ صفت نه ادنیٰ ته ځکه اول درجه تفکر دے بیا لاندے د هغے نه علم دے بیا کوز د هغے نه د یل چانه اوریدل او قبلول دی بیا خکته د هغے نه عقل لرل دی. متفکرین ډیر لږ وی بیا وروسته علم والا بیا وروسته غور کیخودونکی د پاره د قبولیت بیا عقل والا (ترتیب دا دے) هر کله چه اول آیت کښ نکاح او د هغے فائدے ذکر کړے چه دا امور پټ باطنی دی نو د هغے سره ئے فکر ذکر کړو بیا احوال د آسمانونو او د زمکے او مختلف لغات او ژبے او فرق د صورتونو، په ر پاتے په یل مخ)

وَمِنْ اٰيٰتِهٖٓ اَنْ تَقُوْمَ السَّمَآءُ وَالْاَرْضُ

اوبعضې دلیلونو دَ توحید او قدرت دَ الله تعالیٰ نه دا چه ولاړ دی اسمانونه او زمکه

بِاَمْرِهٖ ؕ ثُمَّ اِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً ۖ ۗ مِّنَ الْاَرْضِ ۖ

په حکم دَ هغه سره بیا چه کوم وخت اواز درکړي تاسو ته یو اواز دَ زمکے نه (دَ راوتلو دَ پاره)

اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَلَهٗ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ

دغه وخت به تاسو ټول راوځئ. او خاص په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دی هغه څوک چه په اسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَهُوَ الَّذِىْ

او زمکه کښ دی ټول هغه لره تابع دی. او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

علم سره معلومیږی نو دَ هغے سره ئې علم ذکر کړو بیا دَ خوب دَ حالاتو ته انسان په حیله نه خبریږی بلکه دَ بل چا ته په اوریدلو سره معلومیږی نو هغے سره ئې سمع ذکر کړه. بیا برق او بارانونه او بوټی دَ دے په حالاتو باندے هر عقل والا پوهیږی چه دَ عقل نه کار واخلی نو دَ هغے سره ئې عقل ذکر کړو.

س۲۵ ۔ دا یل دلیل عقلی دے دَ خلق دَ اسمان او زمکے نه روستو دَ هغے قیام (ټینګیدل) ذکر کوی. او دَ دے ټولو خیزونو فنا ته اشاره کوی په اثبات دَ خروج (روتل) دَ زمکے نه.

فائده ع۱ هر کله چه لیدل دَ برق لږ وخت وی او قیام دَ اسمان او زمکے هر وخت دے نو دَ اول سره ئې اَنْ نه دے ذکر کړے او دَ دویم سره ئې اَنْ ذکر کړو ځکه اَنْ دَ مَابَعْدُ سره په تاویل دَ مصدر سره اسم جوړیږی او اسم دلالت کوی په استمرار باندے او بغیر دَ اَنْ نه نفس فعل دے چه دلالت کوی په تجدّد (نوے والی) باندے.

فائده ع۲ مِنَ الْاَرْضِ متعلق دے په اِذَا دَعَاكُمْ پورے نه په دَعْوَةً پورے ځکه چه فعل قوی وی په عمل کښ دَ مصدر نه او هر کله چه دَ شپیلۍ وهلو سره راوتل دَ زمکے نه متصل او ناساپه دی دَ دے وجے نه اِذَآ اَنْتُمْ تَخْرُجُوْنَ ئې بغیر دَ ثُمَّ نه ذکر کړے دے.

س۲۶ ۔ دا یل دلیل عقلی دے روستو دَ ذکر اسمان او دَ زمکے او دَ اهل دَ هغے نه. كُلٌّ لَّهٗ قٰنِتُوْنَ دَ دے نه قنوت تسخیری مراد دے یعنی په ژوندا او مرګ او صحت او مرض وغیره کښ دَ الله تعالیٰ دَ حکم دَ لاندے دی یا مراد دَ دے نه قنوت اختیاری دے او مراد دَ دے نه صلحین

يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ط

چه اول پیدائش کوی بیا یه دوباره هم کوی او دا (رتول) هغه ته اسان دی

وَلَهُ الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ج

او خاص الله تعالیٰ لره صفت اوچت دے په اسمانونو کښ او زمکه کښ،

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿۲۷﴾ ع ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا

او خاص هغه زور اور او حکمت واله دے. بیان کړیدے ستاسو د پوهے د پاره مثال

مِّنْ أَنفُسِكُمْ ط هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ

د جنس ستاسو نه ایا شته تاسو لره د هغه چانه چه مالکان دی

أَيْمَانُكُم مِّن شُرَكَاءَ فِي مَا رَزَقْنَاكُمْ فَأَنتُمْ

ښی لاسونه ستاسو د هغوی څوک حصه داران په هغه مال کښ چه مونږ تاسو ته درکړیدے نو تاسو

فِيهِ سَوَاءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ط

په هغے کښ برابر اختیارمند یئ چه وېریږئ د دوی نه پشان د ویرے ستاسو د رونړو ستاسو نه

۲۷:- دا بل دلیل عقلی دے د توحید سره د اثبات د بعث بعد الموت نه وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ضمیر د هُوَ راجع دے دواړو ذکر کړے شوے حالتونو ته په تاویل د مذکور سره نو هیڅ اشکال نیشته او که ضمیر د هُوَ اعادے ته راجع شی نو أَهْوَنُ کښ تفضیل په اعتبار د عقیدے د بشر دے یعنی د دوی په نیز بانده دوباره کار د اول ځل نه زیات اسان وی یا أَهْوَنُ په معنیٰ د هین سره دے او تفضیلی معنیٰ پکښ مراد نه ده۔

الْمَثَلُ الْأَعْلَىٰ یعنی عام قدرت او علم او حکمتونه. او قتاده وئیلی دی چه لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مراد ترینه وصف د توحید دے۔

فائده:- په دے روستنو دوه ایاتونو کښ اخبار د تصرف د الله تعالیٰ عمومًا او په ابداء او اعاده کښ خصوصًا مقصد دے استدلال مقصد نه دے د دے وجے نه په وَمِنْ آيَاتِهِ سره ئے مصدّر نه کړو.

كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿۲۸﴾

دغه شان جدا جدا بیانوو مونږ آیاتونه دپاره دهغه قوم چه عقل لری۔

بَلِ اتَّبَعَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ

بلکه روان دی هغه خوک چه ظلم ئی کړیدے په خواهشاتو خپلو پسے

بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ فَمَنْ يَّهْدِيْ مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ

بغیر دَ دلیل نه نو څوک به هدایت ورکړی هغه چاته چه الله تعالیٰ بے لارے کړے وی

۲۸ :۔ روستو دَ اثبات دَ توحید نه په دلیلونو سره اوس وضاحت کوی په مثال سره ۔ مِنْ اَنْفُسِكُمْ ستاسو دَ جنس نه ځکه چه مریان هم انسانان دی ۔ یا مراد دَ دے نه نزدے دَ خیږونو نه تاسو ته ۔ فَاَنْتُمْ فِيْهِ سَوَآءٌ هرکله چه شرکت کښ برابرئ نه وی دَ دے وجے نه دلته ئے مقید کړو په مساوات سره په اختیار او تصرف کښ بیا ئے بیان دَ مساوات اوکړو په دے قول سره چه تَخَافُوْنَهُمْ یعنی هر کله چه دوه تنه په شرکت او تصرف کښ برابر وی نو یو تن تصرف بغیر دَ اجازت دَ بل نه نشی کولے بلکه دَ هغهٔ دَ خفګان یا دَ غضب نه ویره کوی ۔ حاصل دَ مثال دا دے چه الله تعالیٰ مولیٰ دے او ټول انسانان دَ هغهٔ مریان او وینځے دی (مملوک دی) نو هرکله چه تاسو خپلو مملوکانو لره خوراک څکاک وغیره ورکوئے لیکن په خپل مال کښ داسے تصرف نه ورکوئے چه تاسو سره برابر شی بلکه په داسے شرکت سره تاسو ډیر خفه کیږئ نو څه رنګه وایئے او عقیده لرئے چه الله تعالیٰ بزرګانو اولیاؤ وغیره ته په خپل بعض مملوکاتو او مخلوقاتو کښ داسے تصرف ورکړے دَ چه هغوی دَ الله تعالیٰ پشان په قدرت مستقله سره په هغے کښ تصرف کوی چه کله اوغواړی نو څوک مریض کړی نو چاله شفا ورکړی څوک غریب کړی څوک مالدار کړی نو هرکله چه په خپله په داسے حالت باندے خفه کیږئ. نو الله تعالیٰ خو (اغنی الشرکاء عن الشرک دے) نو هغهٔ خو خامخا په دے سره خفه کیږی۔

فائده :۔ په دے کښ اول مِنْ ابتدائیه دے او دویم مِنْ تبعیضیه دے او دریم دَ تاکید دَ استغراق دَپاره دے او استفهام انکاری دے۔

نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ هرکله چه په مثال سره وضاحت دَ ډیرو معانیو او حکمتونو کیږی نو ځکه ئے دے ته آیات اُویل۔

وَمَا لَهُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ

او نیشته دوی لره هیڅ مددګاران - نو برابر کړه خپل مخ

لِلدِّيْنِ حَنِيْفًا ؕ فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ

دین ته ګلک په توحید باندے (لازم اونیسه) دین د الله تعالیٰ هغه چه

فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ

پیدا کړی دی خلقو لره په هغې باندے ، نیشته بدلیدل د پیداوخت د الله تعالیٰ

ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

دغه دے دین پوخ او لیکن ډیر خلق

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۰﴾ مُنِيْبِيْنَ اِلَيْهِ وَاتَّقُوْهُ

نه پوهیږی ورګرځیدونکی یئ هغه ته او یره کوئ د هغه نه

۲۹ :۔ دا زجر دے چه سره د دے دلیلونو او مثالونو نه د دے منکرینو د انکار سبب اتباع د هوی ده او په داسے حال کښی چه د اتباع د خواهش د وجے د دلیلونو او مثالونو نه انکار کوی نو دوی ته هدایت نه نصیب کیږی ۔ بِغَيْرِ عِلْمٍ قید د پاره د تاکید د جهل د دوی دے یعنی که چرے د اتباع د هوی سره علم وی نو د دے علم په سبب سره کله کله واپس شی تابعداری د خواهش نه ۔

۳۰ :۔ هر کله چه تیر شوی ایت زجر ذکر کړو په اتباع د خواهشاتو سره نو بیا یکښی توجه ورکوی تابعداری د دین حق ته چه دین فطری دے یعنی توحید خالص او د دے ایت نه اصول ذکر کوی د پاره د حصول د نصرت الٰهی چه دعوی د سورت ده او فاء سره یئ ذکر کړو ځکه چه دا تفریع ده په تیر شوو دلیلونو او مثال باندے ۔ وَجْهَكَ مراد د دے نه ذات دے یا قصد دے ۔ او اقامت د مخ دا دے چه بل طرف ته توجه مه اړوه ټول قصد او توجه او ټول بدن او قوتونه دین د توحید ته او ګرځوه ۔ فِطْرَتَ اللّٰهِ د دے نه مخکښی فعل پټ دے یعنی اِلْزَمْ وَاتَّبِعْ ۔ فِطْرَتَ وزن د فعلت دے د فَطَرَ نه یعنی حال د پیدائش چه الله تعالیٰ په دغه حال باندے ټول خلق پیدا کړیدی او هغه د انسان طبیعت دے او هغه توحید دے په دلیل د حدیث صحیح سره (کل مولود یولد علی الفطرة فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه) هر بچے پیدا کیدے شی په دین (پاتے په بل مخ)

وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۳۱﴾

او دَ مونځ پابندی کوئ او مهٔ کیږئ دَ ډلے دَ مشرکانو نه

مِنَ الَّذِيْنَ فَرَّقُوْا دِيْنَهُمْ وَكَانُوْا

(یعنی) دَ هغه کسانو نه چه ټکړے کړے دے دین خپل او شول

شِيَعًا ؕ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ ﴿۳۲﴾

مختلف ډلے هر یوه ډله په هغه طریقه باندے چه دَ دوی سره ده خوشحاله ده.

دَ توحید باندے نو روستو مور او پلار (دهٔ لره دَ فطرت نه واړوی) یهودی کړی یا نصرانی یا مجوسی. یعنی که چرے انسان دَ پاره څه نور عوارض موانع نه وے نو دے به همیشه دَ توحید په عقیده باندے وے. لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ، دَ خَلْقِ اللّٰهِ نه مراد فطرت دے نو معنیٰ دا شوه چه هیڅ انسان دَ توحید نه بذیر په بله عقیده باندے نه پیدا کیږی. یا دَ خلق الله نه تقدیر مراد دے یعنی چه الله تعالیٰ چه دَ چا دَ پاره سعادت یا شقاوت مقدر کړے دی نو هغه تقدیر نشی بدلیدلے. یا دَ خلق نه مراد دین دَ الله تعالیٰ دے بنا په دے معنیٰ باندے چه نفی په معنیٰ دَ نهی دے یعنی مه بدلوئ دین دَ توحید دَ الله تعالیٰ لره په شرک سره. ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ اقامت ئے کړے شوے دے په دلیلونو سره یا دا چه دَ ټولو پیغمبرانو په اتفاق سره کلک شوے دے. وَلٰكِنَّ سره دفع دوهم ده یعنی که څوک وهم اوکړی چه دین توحید دا سے صحیح دین وے نو دا ډیر خلق ترینه ولے مخالفت کوی نو جواب اوشو چه دا مخالفت دَ دوی دَ بے علمی دَ وجے نه دے. په دے ایت کښ فَاَقِمْ حکم دے او دَ هغے دَ پاره درے دلیلونه دی په درے جملو روستو کښ.

سـ۳۱ـ: دا نور څلور اصول دی دَ پاره دَ تکمیل دَ اقامت للدین اناب[۱]، تقوی[۲]، اقامة الصّلوة[۳]، قطع[۴] تعلق دَ مشرکانو سره. مراد دَ انابت نه حق پرستی ده چه دَ ضد او تعصب نه بچ وی. وَلَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ یعنی دَ هغوی سره دوستانه او شرکت په غم ښادئ کښ او مشابهت په هیڅ عمل کښ مه کوئ.

سـ۳۲ـ: دَ دے ځائ نه دَ مشرکانو اته[۸] صفات قبیحه ذکر کوی چه هغه[۸] اسباب دی دَ پاره دَ لَا تَكُوْنُوْا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ. په دے ایت کښ درے صفات ئے ذکر کړے دی اول تفریق دَ دین دویم تحزب او ډله بازی. دریم په غلط دین

وَإِذَا مَسَّ النَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْا رَبَّهُم

او هرکله چه اورسی (بعضو) خلقوته تکلیف را بلی خپل رب لره

مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَا أَذَاقَهُم مِّنْهُ

اخلاص کوونکی وی هغه ته بیا هرکله چه اوڅکوی دوی ته

رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ

د خپل طرف نه آرام نو ناڅاپه یوه ډله د دوی نه د رب خپل سره

يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ

شریکان جوړوی (عاقبت دا) چه ناشکری اوکړی د هغه نعمت چه موږ دوی ته ورکړے وی

فَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمْ أَنزَلْنَا

نو مزے اوکړئ (د دنیا) زر ده چه پوهه به شئ. آیا نازل کړے دے موږ

باندے خوشحالی کول۔ د تفریق د دین دا معنیٰ ده چه هر یو خپل دین جدا جدا جوړ کړے دے یعنی عقیدے او عملونه یې د خپل ځان نه جوړ کړیدی او هغې ته یې د دین نوم ایښے دے۔ وَكَانُوا شِيَعًا تشیع نه مراد د یو بل سره ملګرتیا او ډله بازی کول دی او دا تعصب دے۔ او خوشحالی په دین خپل دا ده چه هغه حق ګڼړی او ثواب یې ګڼړی او په هغې باندے مالی جانی قربانی کوی۔

۳۳:۔ دا زجر دے او په دے کښ د مشرکانو یو صفت ذکر کړے دے یعنی روستو د دُعا د الله تعالیٰ نه هغهٔ سره شریک جوړول، او دا سے په سورۃ نحل ۵۴ کښ تیر شوی دی۔ مُنِيبِينَ نه مراد اخلاص او اقرار د حق پرستیٔ دے۔

۳۴:۔ په دے کښ بل صفت د دوی ذکر دے چه هغه کفر (ناشکری) د نعمت د الله دے لام د عاقبت دے۔ یعنی شرک کول ناشکری ده د نعمت د الله تعالیٰ۔ فَتَمَتَّعُوا په سورۃ عنکبوت ۶۶ کښ یې لِيَتَمَتَّعُوا ذکر کړے وو ځکه چه هلته تکلیف د سمندر ذکر کړے دے او هغه سخت تکلیف دے او د هغې نه د شرک۔ بیع کول په دے مقصد دی چه په دنیا کښ څه مزے حاصلے کړی ځکه چه مقصد د مشرک صرف د دُنیا ژوند دے او په دے آیت کښ د عام ضرر تکلیف ذکر دے چه د هغې نه نجات سبب دے د دُنیا د مزو حاصلولو د پاره نو فا سببیه یې ذکر کړیدے۔

عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُوْا بِهٖ

په دوی باندے دلیل نو هغه ثابتوی (ربناګی) ذهغه چاچه دوی یې ذالله تعالیٰ سره

يُشْرِكُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَاِذَآ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً

شریکوی. او هرکله چه اوڅکو موږ انسانانو ته خوشحالی د دُنیا

فَرِحُوْا بِهَا ۗ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢ بِمَا

لوئی کوی په هغې سره او که چرے اورسی دوی ته بدحالی په وجه د هغه عملونو

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ اِذَا هُمْ يَقْنَطُوْنَ ﴿۳۶﴾

چه مخکښ لیږلے دی لاسونو د دوی دغه وخت دوی نا امیدی کوی.

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

آیا او دوی ته ګوری چه یقینًا الله تعالیٰ فراخوی روزی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

چالره چه اوغواړی او تنګوی یقینًا په دے کښ ډیر دلیلونه دی

ف۳۵:- په دے کښ هم زجر دے او ذکر د بل وصف د مشرک دے یعنی د مشرکینو سره په شرک باندے هیڅ دلیل منزّله نیشته معلومه شوه چه شرک صرف په تقلید سره کوی. اَمْ اَنْزَلْنَا استفهام انکاری دے او اشاره ده چه د اثبات د عقیدے دپاره نازل کړے شوے دلیل ضروری وی.

ف۳۶:- دا هم زجر دے او په دے کښ دوه صفات د مشرکانو ذکر کوی او دا قسم مشرک کافر د مخکینی نه سخت دے په کفر کښ ځکه چه دے په هیڅ حال کښ الله تعالیٰ نه یادوی بلکه په حالت د نعمت کښ تکبر او لوئی کوی او په حالت د مصیبت کښ نا امیدی داسے کوی چه په ژبه او اندامونو سره د هغې اظهار کوی او دے ته قنوط ویلے کیږی.

لِقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۳۷﴾ فَاٰتِ ذَا الۡقُرۡبٰى حَقَّهٗ

مخه قوم لره چه ایمان لری - نو ورکوه رشته‌دار ته حق دَ هغه

وَالۡمِسۡكِيۡنَ وَابۡنَ السَّبِيۡلِ ؕ ذٰلِكَ خَيۡرٌ

او مسکین ته او مسافر ته دا ډیر فایده‌مند دے

لِّلَّذِيۡنَ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَ اللّٰهِ وَاُولٰٓئِكَ

مخه چالره چه غواړی مخ دَ الله تعالیٰ او دغه کسان

هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿۳۸﴾ وَمَاۤ اٰتَيۡتُمۡ مِّنۡ رِّبًا

دوی پوره کامیاب دی - او هغه چه ورکوئے تاسو څه مال په نیت دَ زیاتی

لِّيَرۡبُوَا فِىۡۤ اَمۡوَالِ النَّاسِ فَلَا يَرۡبُوۡا

چه زیات شی په مالونو دَ خلقو کښ نو نه زیاتیږی

عِنۡدَ اللّٰهِ ۚ وَمَاۤ اٰتَيۡتُمۡ مِّنۡ زَكٰوةٍ

دَ الله تعالیٰ په نیز او هغه چه ورکوئے تاسو څه زکوٰة

ف۳۷:- دا دلیل عقلی دَ توحید دے او رد دے په هغه انسان باندے چه دَ هغهٔ حال په مخکښ ایت کښ ذکر کړے شو یعنی فراخی او تنګسیا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه وی نو دے تکبر او نا امیدی کوئے لاٰيٰتٍ دلیلونه دی په قدرت کامله دَ الله تعالیٰ او قِسم قِسم حکمتونو باندے او هغهٔ مخوؤنکی دَ ایمان دی۔
ف۳۸:- دا هم دَ هغه اصولو سره تعلق لری چه دَ ف۳۳ نه شورو شوی دی - تیر شوے اصول دَ اصلاح دَ نفس سره تعلق لری او په دے کښ احسان دَ خلقو سره دَپاره دَ دے چه دعوت دَ حق ته لار اسانه شی۔
او دَ دے ایت ربط دَ نزدے ایت سره دا دے چه فراخی دَ رزق حاصلیګی په صله رحمیٔ او احسان دَ محتاجو سره - او دا خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او مراد تربنه امت دے او دا حکم په احتیاج دَ ذوالقربٰی او په وخت دَ استطاعت دَ ورکوؤنکی کښ واجب دے ځکه چه حقه یٔ ذکر کړے دے۔
يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَ اللّٰهِ اراده نه مراد نیت کول دی نو اشاره ده چه ثواب په نیت سره حاصلیګی۔

تُرِيْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ ﴿۳۹﴾

چه غواړئ په هغې سره مخ دَ الله تعالیٰ نو دغه کسان دوی ډیروونکی دی (مالونو او اجرونو لره).

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه تاسو ئې پیدا کړئ بیا روزی درکړی تاسو ته بیا به

يُمِيْتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيْكُمْ ۭ هَلْ مِنْ شُرَكَاۗىِٕكُمْ

مړه کوی تاسو بیا به ژوندی کوی تاسو آیا شته ستاسو دَ شریکانو نه داسے کس

مَّنْ يَّفْعَلُ مِنْ ذٰلِكُمْ مِّنْ شَيْءٍ ۭ سُبْحٰنَهٗ

چه اوکړی دَ دے کارونو نه څۀ کار. پاک دے الله تعالیٰ

وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۴۰﴾ ظَهَرَ الْفَسَادُ ع

او بره دے دَ هغې نه چه دوی ئې شریکان جوړوی. ښکاره شویدی عذابونه

ف ۳۹:۔ دا منع کول دی دَ مقابل دَ احسان نه چه ربٰو او ریاء ده۔ او په دے ایت کښ تقابل دے دَ ربٰو او دَ زکوٰة په خلاف دَ گمان دَ خلقو سره۔ تاپوهه خلق گمان کوی چه په ربٰو سره مال زیاتیږی نو اوفرمائیل فَلَا یَرْبُوْا عِنْدَ اللّٰهِ اوگمان کوی چه په زکوٰة سره مال کمیږی نو اوئې فرمائیل فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُضْعِفُوْنَ۔ ربٰو په مکه کښ حرام شوے نه وه لیکن یدی اوقباحتونه دَ هغې بیانیدل دَ پاره دَ دے چه خلق ترینه ځان بچ کړی یا دَ ربٰو نه مراد (سپک خوئی دے) چه چا لره هدیه په دے اراده ورکوی چه دے به دَ دے په وجه ماله زیات راکړی لکه مدارک کښ لیکلے دی۔ زَکٰوةٍ دَ دے نه مراد فرضی زکوٰة دے بنا په قول دَ هغه مفسرینو چه هغوی وائی دی چه په مکه کښ زکوٰة فرض شوے وو لیکن مقدارونه ئې نۀ وو مقرر کړے شوی۔ یا مراد ترینه هره صدقه او هدیه ده په دے نیت سره چه پاک والے او زیات ثواب په هغې سره حاصلوی یعنی دَ زکوٰة نه معنیٰ لغوی مراد ده۔ تُرِیْدُوْنَ وَجْهَ اللّٰهِ ئې دوباره ذکر کړو دَ پاره دَ امر دَ نیت او ارادے یعنی فرض نفل هر عبادت په نیت باندے بنا دے۔ الْمُضْعِفُوْنَ په دُنیا کښ مال ئې زیاتیږی ظاهرًا او برکات ئې ډیریګی او په اخرت کښ ثواب ډیر حاصلیګی۔

ف ۴۰:۔ دا هم دلیل عقلی دے او ترغیب دے چه په هر عبادت کښ اراده دَ وجه الله کوئې ځکه هغۀ په تاسو باندے انعام دَ خلق او دَ رزق کړیدے

فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ

په اوچه او لونده کښی په وجه دهغه گناهونو چه کړے دی لاسونو دَ خلقو

لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا

دَپاره دَدے چه او سکوی دوی ته بعض سزا دَهغه عملونو چه دوی کړے دی

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۴۱﴾ قُلْ سِيرُوا

دَپاره دَ دے چه دوی اوګرځی طاعت دَ الله تعالیٰ ته۔ ته اُوایه اوګرځئ

فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په ملک کښی تو اوګورئ چه څنګه وؤ انجام

الَّذِينَ مِنْ قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُمْ

دَ هغه کسانو چه دوی نه مخکښی وو ډیر دَ هغوی نه

اولامانت (مرګ) او احیاء دَپاره دَ تخویف ذکر کړیدی او بیائے په دے پاند ے
رد دَ شرک صراحةً بیان کړیدے او مسئله دَ توحید ئے ذکر کړے ده۔
سُبْحٰنَهٗ کښی اشاره ده چه دَ الوهیت حقه او دَ شرکت په مینځ کښی عقلی متافات
دے او تَعٰلٰی کښی اشاره ده چه الله تعالیٰ اوچت دے او بره دے۔ او شُرَكَآءِ چه
ټول مخلوق کوز دی دوی الله تعالیٰ ته نشی رسیدلے۔
ساك :- په دے ایت کښی تخویف دنیوی دے سرهٔ دَ ذکر کولو دَ سبب دَ
عذاب نه، اَلْفَسَادُ ته مراد نقصان په هره فائده کښی۔ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ، هغه
طوفانونه چه په هغے سره جهازونه کشتئ غرق شی۔ ډیر موجونه چه جهازونه لشی
چلیدلے۔ دواب دَ سمندر هلاکیدل دَ ښکار کمیدل۔ دَ باران نه کیدلو دَ وجے نه
ملغلرے په صدفونو کښی نه جوړیدل وغیره دا عذابونه په سمندر کښی راځی۔
بِمَا كَسَبَتْ، دا رنګ په سورة شوریٰ سنه ۳۰ کښی هم دی او دا سزا دَ بعض عملونو
ده نوکه مؤمنان وی نو دَ بعض نه ورته الله تعالیٰ معافی اوکړی او که کافران
وی یا مؤمنان ګنهګاران چه توبه او نه باسی نو نور عذاب ورله برزخ کښی او اخرت
کښی ورکوی۔ يَرْجِعُونَ مراد دَ دے نه توبه کول په زړه کښی او په ژبه سره
دَ پریخودلو دَ ګناه نه۔

مُّشْرِكِيْنَ ﴿۴۲﴾ فَاَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ

مشرکان وو ۔ تو برابر کړه مخ خپل دین پوخ ته

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ

مخکښې ددے نه چه راشی ورځ چه نه به وی واپسی د هغې د الله د طرفه

يَوْمَئِذٍ يَّصَّدَّعُوْنَ ﴿۴۳﴾ مَنْ كَفَرَ فَعَلَيْهِ

په دغه ورځ به بیکړے شی خلق ۔ چاچه کفر کړے دے نو په هغه باندے به سزا

۴۲:۔ دا تاکید دے د تیر شوی ایت په ذکر د عذابونو د تیر شوے منکرینو سره ، كَانَ اَكْثَرُهُمْ مُّشْرِكِيْنَ یعنی لوے سبب د عذابونو شرک وو او په بعض قومونو باندے د نورو گناهونو د وجے نه هم عذابونه راغلی دی۔

۴۳:۔ د دے ایت نه تر اخره د سورت پورے اخری باب دے په دے کښې امر دے په ټینګیدلو سره په توحید باندے او تخویف اخروی او بشارت مختصر ذکر کوی په درے ایاتونو کښې . بیا عقلی دلیلونه پنځه ذکر کوی ۴۶ ۴۸ ۴۹ ۵۰ ۵۴ ، او دعوی د سورت په ۵۴ کښې او زجر منکرینو ته په ۵۱ کښې او تسلی نبی صلی الله علیه وسلم ته په ۵۲ ۵۳ کښې بیا تخویف اخروی په ۵۵ ۵۶ ۵۷ او زجر په انکار د قران سره په ۵۸ ۵۹ کښې او اختتام ذکر کوی په تسلئ سره چه متعلق دے د اول د سورت سره په ۶۰ کښې۔ په دے (۴۳) کښې حکم کوی په اقامت د دین د پاره د دفع کولو د عذاب چه مخکښې ایاتونو کښې ذکر کړے شو۔ او اَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّيْنِ الْقَيِّمِ نه مراد ټینګیدل دی توحید باندے سرهٔ د مخالفت د اعمالو د مشرکانو نه۔ هر کله چه دلیلونه ئے په توحید باندے ډیر بیان کړل او د مشرکانو قبائح ئے هم ذکر کړل او لوے سبب د عذاب ئے ذکر کړو چه شرک دے نو د هغې نه معلومه شوه چه دین د توحید قَيِّم (کلک) دین دے . د دے وجے نه په دے ایت کښې د دین سره ئے قَيِّم راوړو۔ لَا مَرَدَّ دا مصدر میمی دے۔ مِنَ اللّٰهِ دا متعلق دے يَاْتِيَ پورے (یعنی راځی به دا ورځ د طرف د الله تعالیٰ نه) یا متعلق په محذوف پورے چه مَرَدَّ په هغې باندے دلالت کوی یعنی نشی واپس کولے هغې لره هیڅوک د الله تعالیٰ نه) یا متعلق دے په مصدر پورے یعنی نیشته واپسی د هغې د طرف د الله تعالیٰ نه) يَصَّدَّعُوْنَ کښې د ډلو جدا کیدل مراد دی صدع دلالت کوی په شق باندے اشاره ده چه یو بل نه پوره جدا شی۔

كُفْرُهٗ ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِاَنْفُسِهِمْ

ذکفر د هغه دی او چاچه عمل کړے وی موافق دَ سنّت سره نو دوی خپلو ځانو تو لره.

يَمْهَدُوْنَ ﴿۴۴﴾ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

بیه ځائے تیار دی دَپاره دَدے چه بدله ورکړی هغه چاته چه ایمان ئے راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّهٗ

او عملونه ئے کړے دی دَ سنّت موافق دَ فضل خپل نه یقینًا الله تعالیٰ

لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهٖۤ

نه خوښوی کافرانو لره. او بعض دَدلیلونو دَ توحید او دَ قدرت دَ الله تعالیٰ نه

اَنْ يُّرْسِلَ الرِّيَاحَ مُبَشِّرٰتٍ وَّلِيُذِيْقَكُمْ

دا چه رالیږی هواګانے زیرے ورکوونکی او دَپاره دَدے چه اوسکوی تاسو ته

مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَلِتَجْرِيَ الْفُلْكُ بِاَمْرِهٖ

څه حصه دَ رحمت خپل نه او دَپاره دَدے چه روانے وی کشتۍ په حکم دَ الله تعالیٰ سره

وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۴۶﴾

او دَ دَپاره چه اولټوئے دَ فضل دَ الله تعالیٰ نه او دے دَپاره چه شکر اوکړئے تاسو -

---

۴۴:- په دے کښ دَ دوارو ډلو ذکر دے په تخویف او بشارت سره. يَمْهَدُوْنَ ځائے دَ ارام تیاروی دَ ځان دَپاره په قبر کښ او حشر کښ - مَنْ عَمِلَ صَالِحًا دلته عمل عام دے عقیدے (ایمان) او اعمالو ته شامل دے.

۴۵:- دا هم متعلق دے په تیر شوی ایت پورے په لف نشر غیر مرتب سره. لِيَجْزِيَ متعلق دے په یمهدون پورے. مِنْ فَضْلِهٖ اشاره ده چه جزاء محض فضل دَ الله تعالیٰ دے، په الله تعالیٰ باندے واجب نه ده - اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ متعلق دے فَعَلَيْهِ كُفْرُهٗ پورے -

۴۶:- دا یو دلیل عقلی دے او په دے کښ وجه دَ لَا يُحِبُّ الْكٰفِرِيْنَ ده یعنی کافر دَ بیکاره ایاتو نه منکر دے او دَ هواګانو دَ رالیږلو ئے پنځه فائدے ذکر کړیدی اول بشارت په باران سره دویم رحمت او مراد تربیه او په او اوبه یوتی او په هغے سره خوراک څکاک وغیره دی دریم چلیدل دَ کشتو په هواګانو (پاتے په یل مخ)

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ رُسُلًا اِلٰى

او یقینًا لیږلي دي موږ ستا نه وړاندې رسولان

قَوْمِهِمْ فَجَآءُوْهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَانْتَقَمْنَا

قومونو د هغوی ته نو راوړل ئې دوی ته ښکاره احکام نو بدله واخستله موږ

مِنَ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا ؕ وَكَانَ حَقًّا

د مجرمانو نه او دے ضروری

عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾ اَللّٰهُ الَّذِیْ

پسموږ باندے مدد کول د مؤمنانو سره۔ الله تعالی خاص هغه ذات دے

يُرْسِلُ الرِّيٰحَ فَتُثِيْرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهٗ

چه رالیږی هواګانے نو را اوچتے کړی وریځے نو خورے کړی هغے لره الله تعالی

فِى السَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهٗ كِسَفًا

په بره طرف کښ څه رنګه چه اوغواړی او کرځوی الله تعالی دا وریځے ټکړے ټکړے باندے

فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ فَاِذَآ

نو وینے ته څاڅکی د باران چه راوځی د مینځ د هغے نه نو کم وخت

سره لیکن په امر د الله تعالی سره ځلورم طلب د رزق په بحری سفر سره پنځم شکر په دغه انعاماتو باندے۔
سک۴۔ هرکله چه ظاهری انعامات ئې ذکر کړل نو اوس باطنی انعام ذکر کوی او مقصد پکښ تائید د دعوے د سورت دے۔
حَقًّا عَلَيْنَا دا حق الله تعالی په ځان باندے لازم کړے دے په سبب د وعدے خپلے سره او دیته حق تفضلی ویلے کیږی دا حق واجبی نه دے پشان د وجوب په بندګانو باندے او د دے نصرت یو مثال په حدیث د ترمذی کښ ذکر دے (ترجمه) "نیشته یو مسلمان شخص چه حفاظت اوکړی د عزت د یو مسلمان ورور مګر حق دے په الله تعالی باندے چه لرے کوی به د هغه نه اور د جهنم په ورځ د قیامت" بیائے اولوستلو دا آیت وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ۔

أَصَابَ بِهِ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖٓ إِذَا هُمْ

چه اورسوی هغه لره هغه چاته چه اوغواړی الله تعالیٰ د بندګانو خپلو نه دغه وخت دوی

يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَإِنْ كَانُوْا مِنْ قَبْلِ

ډیر خوشحاله شی . اګر چه وو دوی مخکښ

أَنْ يُّنَزَّلَ عَلَيْهِمْ مِّنْ قَبْلِهٖ لَمُبْلِسِيْنَ ﴿۴۹﴾

د راښکولو د باران نه په دوی باندے مخکښ د دے وخت نه ناامیدی کوونکی .

فَانْظُرْ إِلٰىٓ اٰثٰرِ رَحْمَتِ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْيِ

نو اوګوره نښو د رحمت د الله تعالیٰ ته چه څه رنګه تازه کوی الله تعالیٰ

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۗ إِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى ۚ

زمکه روستو د اوچیدلو د هغے نه یقیناً دغه ذات ضرور ژوندی کوونکے د مړو دے

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۵۰﴾ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا

او هغه په هر څیز باندے قدرت والا دے . او که چرے اولیږو موږ

۴۸ : دا بل دلیل عقلی دے او مثال د نصرت الٰهیه دے لکه چه روستو د ناامیدئ
د خلقو نه الله تعالیٰ باران اوکړی او خلق خوشحاله شی نو دا رنګ روستو د کمزورالی
د مؤمنانو نه الله تعالیٰ په هغوی له نصرت او فتح ورکوی. او په دے ایت کښ د وریځو
مختلف حالات یئ ذکر کړے دی د هغے راپورته کیدل د هغے خوریدل د هغے ټوټے ټوټے
کیدل د هغے نه باران راوتل. اشاره ده چه دا ټول تصرف د الله تعالیٰ دے او دا سے حالا
اکثر د سپرلی په موسم کښ پیدا کیږی۔
۴۹ : دا تتمه د مخکښ ایت ده . د من قبله ضمیر وریځ ته راجع دے اویا دے وخت
ته راجع دے اویا قرآن ته راجع دے یعنی د قرآن د هدایت نه وړاندے دا خلق
د جهل د وجے د سوکړے په وخت به ډیر ناامیده کیدل د رحمت د الله تعالیٰ نه۔
۵۰ : دا بل دلیل عقلی دے او د تیر شوی ایت سره تعلق لری یعنی اثار د
باران ذکر کوی ځکه چه دلته د رحمة الله نه مراد باران دے او د اثار نه مراد
بوټی وینے فصلونه وغیره دی. كَيْفَ يُحْيِ دا د اثار تفسیر دے. إِنَّ ذٰلِكَ لَمُحْيِ الْمَوْتٰى
دا اثبات د قیامت دے په حیات د زمکے سره روستو د موت د هغے نه په طریقه
د قیاس سره۔

رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا لَّظَلُّوا مِن بَعْدِهِ

سیلۍ نو اوینی دوی فصل لره زیړ نو شوروپه شی روستو دَ هغه نه چه

يَكْفُرُونَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ وَلَا

کفر به کوی ۔ پس یقینًا ته اورول نشې کولے مړوته او

تُسْمِعُ الصُّمَّ الدُّعَاءَ إِذَا وَلَّوْا مُدْبِرِينَ ﴿٥٢﴾

اورول نشې کولے کڼو ته بلنه هرکله چه دوی اوګرځی شا کوونکی ۔

وَمَا أَنتَ بِهَادِ الْعُمْيِ عَن ضَلَالَتِهِمْ

او نه یې ته هدایت کوونکے ړندوته چه را اوباسے دَ ګمراهۍ دَ هغوی نه

س۵۱ :- دا زجر دے یعنی سرهٔ دَ نعمت دَ باران اودَ فصلونو ته که چرته دَ دوی دَ بدو عملونو په وجه سره په دغه فصلونو باندے سیلۍ دَ عذاب راشی او مړاوے او زیړ شی نو دوی توبه نه او باسی بلکه کفر کوی۔

فائده :- دَ فائدے هواګانے اکثر په صیغه دَ جمع سره ذکر کیږی رِیَاحٓ لکه چه مخکښ دوه ایاتونو کښ یې ذکر کړو۔ اودَ عذاب هوا مفرد ذکر کیږی او دَ دے وجه دا ده چه دَ رحمت او فائدے هواګانے ډیرے وی اودَ عذاب سیلۍ کله کله وی۔

س۵۲ س۵۳ :- هرکله چه دَ دلیلونو ته دَ مخالفینو انکار یې (په تیرشوی ایت کښ) ذکر کړو نو اوس یو اعتراض دفع کوی یعنی که څوک اعتراض اوکړی چه دا انکار دَ دوی دَ وجه دَ نقصان دَ دلیلونو نه دے نو جواب اوشو چه دلیلونه خو پوره مؤثر دی ځکه چه مؤمنان ترینه فائدے اخلی لیکن په منکرانوکښ موانع دَ دوی دَ طرف نه موجود وی هغه دا چه دوی ټول حواس ځان له بے کاره کړے دی دَ مړو پشان یا بعض حواس یې بے کاره کړے دی لکه کوڼ یا ړوند۔ سورة نمل کښ دَ انك لا تسمع نه روانے ایاتونه په اِنَّ سره مصدر تیرشوے وو نو ځکه په هغه سورت کښ یې په اِنَّ سره راوړے وو او دا رنګ هغه علت وؤ دَ پاره دَ ماقبل او په دے سورت کښ دا تفریع ده په ماقبل باندے او په تفریع باندے فآء داخلیږی ۔ او په دے سورت کښ فآء په سـ۱۷ س۳ س۳۸ س۴۳ کښ هم ذکر کړے ده۔

فائده :- هرچه دَ مړو افهام (پوهه کول) ممکن نه دے نو هغه یې اول

إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ يُؤْمِنُ بِاٰيٰتِنَا فَهُمْ

اوروَل نه شے کولے ته مګر هغه چاته چه یقین لري په ایاتونو زمونږ نو دوی

مُّسْلِمُوْنَ ﴿۵۳﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ

حکمونه مني . خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړے ئے تاسو دَ

ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ

کمزورے نه بیا ئے ګرځولے دے روستو دَ کمزورۍ نه

قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا

طاقت بیا ئے ګرځولے دے روستو دَ طاقت نه کمزوري

ذکرکړو بیا دَ کوتر افهام ډیر سخت دے نو هغهٔ ئے ورپسے ذکر کړو بیا دړوند لږ سخت دے نو هغه ئے روستو ذکر کړو نو په دے تشبیهاتو کښ تنزّل دے دَ اعلیٰ نه ادنیٰ ته اشاره ده چه دَ قران نه هغه څوک فائده اخستے شي چه په ټولو حواسو سره ورته توجه اوکړي. او دارنګ په دے درے تشبیهاتو کښ دَ کافرانو هغه درے حالاتو ته اشاره ده کوم چه په (خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰی سَمْعِهِمْ وَعَلٰی اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ) کښ ذکر دي.

مسئله دَ سماع موتیٰ

(۱- ایا مړي دَ دُنیا والو خبرے اوري او که نه اوري) مقام دَ دے مسئلے (دَ مړو نه اوریدل خبرو دَ ژوندو لره) دا اتفاقي مسئله وه. قول دَ امام شافعي رحمة الله او دَ امام احمد رحمة الله تعالیٰ په مغني دَ ابن قدامه ص۵۱۴/ج۲ او په تکمله دَ شرح مهذب للنووی ص۱۹/ج۱۸ کښ ذکر کړے شوي او دَ دعوی دلیل ئے ایت دَ سورة فاطر وما انت بمسمع من في القبور ذکر کړے او دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په الکوکب الدري شرح الترمذي ص۳۱۹/ج۱ کښ او په تفسیر مواهب الرحمان ص۶۰/ج۲۱ او تفهیم المسائل ص۲۳ کښ ذکر کړے دے او دارنګ په تفسیر دَ ایت انما یستجیب الذین یسمعون والموتیٰ یبعثهم الله (رکوع ۳۶ سورة انعام) تفسیر خازن ص۱۲/ج۲ تفسیر نیشاپوري ص۱۳۴/ج۷ تفسیر ابن جریر ص۱۱۸/ج۷ کښ لیکلي دي چه مړي نه اوري.

او دارنګ فتح القدیر ص۶۹ کتاب الجنائز کښ ویلي دي چه دَ اکثرو علماؤ احناف قول دا دے. دارنګ عیني په عمدة القاري ص۲۰۲/ج۸ کښ لیکلي دي چه مړي نه اوري.

شیخ رشید احمد ګنګوهي لیکلي دي چه دا قول دَ عائشه رضي الله عنها او ابن عباس رضي الله عنهما دے او دا قول دَ ملا علي قاري دے (پاتے په بل مخ)

شرح فقه اکبر ص۱۵۹ او دا قول دَ تفتازانی دے شرح مقاصد ص۲/۲۳۲۔ او دَ دے نه علاوه نور هم دَ فقهاؤ محدثینو دا قول دے۔ که څوک اعتراض اوکړی چه عبد الله ابن عمر رضی الله عنه (دَ حدیث قلیب بدر) په وجه دَ دے قائل دے نو معلومه شوه چه مسئله کښ دَ صحابه کرامو اختلاف وُو، اول جواب دا دے چه هرکله عائشه رضی الله عنها دَ هغې حدیث مقصد بیان کړو نو ابن عمر رضی الله عنه دَ هغې جواب نه دے کړے نو اختلاف ختم شو، دویم جواب دا دے چه دا په منصوصی موضع کښ ابن عمر رضی الله عنه قائل دے۔

هاں اختلاف دَ اهلِ علمو په دے کښ شته چه مواضع منصوصه کښ سماع ثابت ده او که نه ده۔ اکثر احناف وغیره مواضع منصوصه کښ هم دَ سماع قول نه دے کړے بلکه دَ هغې تاویلو نه ئے کړیدی لکه چه روستو به ذکر کړیشی۔ او بعض اهلِ علم صرف په مواضع منصوصه کښ دَ سماع قائل دی لکه امام بخاری او صاحب دَ فتح القدیر په سماع دَ قرع النعال قائل دی او شیخ الاسلام ابن تیمیه او ابن قیم رحمهما الله هم په مواضعو منصوصو کښ قائل دی او دا رنګ علامه آلوسی مفسر دَ روح المعانی او شاه انور شاه کاشمیری مصنف دَ فیض الباری شرح بخاری هم په مواضع منصوصو کښ دَ سماع قائل دی۔ او مواضع منصوصه صرف درے دی یو سماع دَ قرع النعال دویم حدیث بدر دا دواړه صحیح احادیث دی او دریم حدیث دَ سلام دے چه په هغې کښ ذکر دَ اوریدلو دَ سلام او جواب ورکول دی لیکن هغه حدیث صحیح نه دے لکه چه روستو به ذکر کړے شی او څوک چه دَ مړی دَ هر وخت دَ اوریدلو عقیده لری نو دَ هغوی هیڅ صحیح دلیل نیشته نو دا عقیده دَ بدعت ده او کله چه دَ دے عقیدے دَ وجے دَ مړی نه شفاعت غواړی نو دا شرک ته ذریعه ده او کله چه دَ مړی نه حاجت پوره کیدل غواړی نو دا خو بالکل شرک حقیقی دے۔ دلیل دَ مړو دَ نه اوریدلو انك لا تسمع الموتى (سورة نمل) فانك لا تسمع الموتى (سورة روم) وما انت بمسمع من فى القبور (سورة فاطر) آیاتونه دی۔ طریقه دَ استدلال ئے دا ده چه الله تعالىٰ په دے آیاتونو کښ تشبیه دَ کافرانو (عنادیانو) دَ مړو سره ورکړیده په نه اوریدلو کښ (لکه چه په دے باندے تفسیر ابن جریر دَ دے آیت دَ لاندے تصریح کړے ده او نورو مفسرینو هم او صاحب دَ فتح القدیر هم) او وجه شبهه په مشبه به کښ زیاته وی یا مشهور وی نو معلومه شوه چه مړی نه اوری په دے کښ استدلال دے په اشارة النص سره او هغه هم یقینی دے اګرچه عبارة النص دَ دے آیاتونو بیان دَ نه اوریدلو دَ عنادیانو دے بیا په دے استدلال

بانديې څو اعتراضونه دي دَ هغې جوابونه ليکلې کيدلے شي. اول اعتراض په دے
ايا نو کښې نفي دَ اسماع ده نفي دَ سماع خو نه ده؟ اول جواب دا دے چه عائشې رضی الله
عنها په دے سره دليل نيولے دے دَ پاره دَ نه اوريدلو دَ مړو او هغه اهل لغتِ
عربيه ده نو که دا استدلال صحيح نه وے نو هغې پرے ولے استدلال کوؤ.
دويم جواب سماع مطاوع او تابع (اثر) دے دَ پاره دَ اسماع او په نفي دَ مطاوع
سره نفي دَ مطاوع ضرور راځي. دويم اعتراض اسماع په معنٰی دَ پيدا کولو دَ سماع
او دَ توفيق ورکولو ده لکه چه انك لا تهدي من احببت کښې راغلے دي؟
جواب اول خو دليل نيول دَ عائشه رضی الله عنها دے. دويم جواب الزامي دا دے چه
وړسے فرمائيلي دي ان تسمع الا من يؤمن نو ايا دلته دا معنٰی صحيح کيږي؟
چه ته سماع نشې پيدا کولے مګر (هغه چا لره پيدا کولے شې) چه ايمان لري
دا معنٰی خو باطله ده نبي صلی الله عليه وسلم خو هيچا له نه سماع پيدا کولے شي
او نه توفيق ورکولے شي. دريم اعتراض دا تشبيه صحيح نه ده ځکه چه مړي نه
اوري او کافران اوري خو فايده نه ترينه نشي اغستلے نو معلومه شوه چه مړي اوري
خو فائده نشي اغستلے؟ اول جواب استدلال دَ عائشه رضی الله عنها دے. دويم
جواب الزامي دے چه هر کله مړے اوري خو فائده نشي اغستلے نو دَ هغوي سره
خبرے کول عبث کار شو او عبث کار کول ناجائز دي. دريم جواب دا دے چه
تشبيه صحيح ده ځکه وجه شبه جنس نه اوريدل دي او دَ هغې دوه نوعے دي يو نه
اوريدل مطلقًا او دويمه نوعه نه اوريدل په طريقه دَ عدم انتفاع سره نو جانب دَ
مشبه به (يعني مړي) کښې نه اوريدل دي او په جانب دَ مشبه (کافرانو) کښې نه
اوريدل په طريقه دَ نفع اغستلو لکه زيد کالاسد کښې وجه شبه شجاعت دے ليکن
په اسد کښې شجاعت دَ افتراس (خلق شلول او خوړل) دي او په زيد کښې صرف
شجاعت دے او تشبيه صحيح ده. څلورم جواب الزامي دے چه دا اشکال خو وړسے
جمله کښې هم لازميږي ولا تسمع الصم يعني کوڼ هغه وي چه هيڅ نه اوري او حال
دا چه تشبيه دَ کافرانو ئې ورسره کړے ده نو دَ دے څه جواب دے؟ نو هغه جواب
به په اوله جمله کښې هم کيدے شي.
څلورم اعتراض بعض مفسرينو دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت کړيدے چه مراد
دَ موتٰی نه موتی القلوب دي يعني چه زړونه ئې مړه وي او هغه خو کافران دي؟
جواب دا دے چه يو اشارة النص دے (چه هغه دَ عبارت دَ روندنه نه معلوميږي)
او بل عبارة النص دے (هغه چه مقصد دَ عبارت دَ چليدلو وي) (پاتے په بل مخ)

اومراد چه چا ذکر کړے دے نو دَ عبارة النص په لحاظ سره او استدلال دَ نه اوریدلو په لحاظ دَ اشارة النص سره دے بعضو خلقو اعتراض کړے دے چه فقهاؤ دَ مړو دَ نه اوریدلو مسئله په باب دَ قسم کښ ذکر کړیده او هرکله چه بِنا دَ قسمونو په عرف باندے وی نو دَ دے نه نهٔ معلومیگی چه مړے بلکل نه اوری۔ اول جواب دادے چه فقهاؤ دا مسئله په باب دَ تلقین دَ مړی کښ او دَ سلام دَ جنازه کښ هم ذکر کړیده لکه فتح القدیر او بحر الرائق کښ۔ دویم جواب چه هرکله په عرف کښ نه اوری، نو معلومه شوه چه شرعًا هم نه اوری، ځکه چه عرف خلاف دَ شرع نه معتبر نه وی خاص طور په شرعی مسائلو کښ، دریم جواب دادے چه په مغنی د ابن قدامه او په تکمله دَ شرح مهذب کښ دَ دے مسئلے دلیل یئے دا ایت ذکر کړے دے وما انت بمسمع من فی القبور عرف یئے نه دے ذکر کړے "هغه احادیث چه دَ هغې نه دلیل نیولے کیدیشی دَپاره دَ اثبات دَ سماع موتیٰ او دَ هغې جوابونه"!

حدیث اول. سماع المیت قرع النعال ریعنی مړے چه دفن کړے شی او خلق کرینه واپس رارِوان شی نو دے کشار دَ پیزار اوری چه دغه وخت ورته ملائک دَ سوال وجواب راشی اه) اول جواب دادے چه دا خاص دے په وخت دَ دفن پورے کوم وخت چه کیښودے شی په قبر کښ لکه چه دا قول دَ ابن همام دے او دا قول دَ امام بخاری رحمة الله هم دے۔ دویم جواب دادے چه دا جمله تنجیزیه ده ظاهرًا او تعلیقیه ده معنیٰ دا شوه یعنی لوکان حیًا په کښ پټ دے که دا شخص ژوندے وے نو اوریدل به یئے کړے وے۔ او دا تعلیق دَ دے وجے نه دے چه ملائیکو تراوسه پورے دهٔ ته روح نه دے راوړے نو دے څه رنګه اوری او دا قول دَ ملا علی قاری په مرقات شرح مشکوٰة ص۱۹۸ کښ نقل کړے دے۔

دریم جواب دا تمثیل دے دَ زر راتللو دَ ملائیکو دے مړی ته دَپاره دَ سوال وجواب یعنی دا ملائیک داسے زر راځی که دے ژوندے وے نو دَ دے خلقو دَ پیزار کشار به یئے اوریدلے وَے دَ وجے دَ نزدے والی دَ هغې نه دا رنګ په الکوکب الدری ص۳۱۹ کښ ذکر کړے دی۔ څلورم جواب. عبارت دَ دے حدیث اِنّه یسمع قرع نعالهم دے یعنی یسمع صیغه دَ مجهول ده او قرع مرفوع دے نائب فاعل دے۔

پنځم جواب دادے چه اوریدل دَ کشار دَ پیزار مستلزم نه دے اوریدلو دَ خبرو لره ځکه چه یو شخص دَ کوټے دَ چت دَپاسه ګرځی او دروازے بندے وی نو لاندے شخص دَ دهٔ دَ پښو دَ ګرځیدلو کشار اوری لیکن خبرے یئے نه اوری او دا ښکاره خبره ده۔ شپږم جواب دادے چه دَ دے حدیث په سند کښ یو راوی

عبدالاعلی بن عبدالاعلی دے او په دهٔ کښې کلام دے لکه چه لسان المیزان مېن۹ کښې نقل دی۔
حدیث دویم۔ حدیث دَ قلیب بدر دے ریعنې خوارلس مشران دَ قریشو کافرانو لره په کوهی کښې اوغورځولے شو او بیا ورسره درېے ورځې روستو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبرے اوکړلے، اھ) اول جواب دا دے چه عائشه رضی الله عنها دَ دے مراد په علم سره بیان کړے دے یعنې دا مړی په هغهٔ عذاب باندے پوهیږی کوم چه ما دوی ته خبر ورکړے وؤ او سمع په معنیٰ دَ علم سره راتلے شی او عائشه رضی الله عنها دلیل نیولے دے په آیت دَ قرآن سره۔ او امام بخاری په مېن کښې ذکر کړے دی۔ دویم جواب دا دے چه دا معجزه ده او خاص ده په نبی صلی الله علیه وسلم پورے او دلیل په دے باندے قول دَ قتاده دے چه امام بخاری په مېن کښې نقل کړے دے چه الله تعالیٰ دغه وخت دوی لره ژوندی کړل دَ دے دَپاره چه قول دَ نبی صلی الله علیه وسلم ورته واؤروی۔ دریم جواب دا مختص دے صرف په دغه کسانو پورے کوم چه قلیب بدر ته یې غورځولے وؤ په دلیل دَ الفاظو دَ تخصیص سره چه راغلے دی په دغه حدیث کښې ما انتم باسمع لما اقول منهم یعنې دَ خپل قول تخصیص یې کړے دے۔
حدیث دریم۔ حدیث دَ سلام په قبرونو باندے په صیغه دَ خطاب او حرف ندا اشاره پیاده) اول جواب دا دے چه صرف خطاب مستلزم دَ اوریدلو ته دے او دَ دے دَپاره په عربۍ کښې ډیر شواهد موجود دی قرآن کریم سورة صافات سلا۹ سل۹ کښې خطاب شته او اوریدل نیشته او دا رنګ حرف دَ ندا اوریدلو لره مستلزم نه دے۔ عرب ډیر کرتے ندا دَ نور مقصدونو دَپاره مستعملوی او مړی ته ندا په نیز دَ عربو او نحویانو دَ ندبے (ویر کولو) دَپاره وی په هغے کښې اوریدل مقصد نه وی۔ دویم جواب دا دے چه دَ اسلام دَ تحیه نه دے او اوریدل او جواب نه غواړی بلکه سلام په مړی باندے دُعا دَ سلامتیا وی دا رنګ بحرالرائق صـ او طحطاوی صلا۲ کښې لیکلے دی۔
حدیث څلورم۔ حدیث دَ سلام په قبر باندے چه قبر والا یې پیژنی او جواب دَ سلام ورکوی؟ جواب دا دے چه دا حدیث ضعیف دے په دے کښې ابن سمعان راوی دے، میزان الاعتدال او تهذیب التهذیب کښې یې دهٔ ته کذاب او وضاع ویلے دی او بل راوی یحیٰ بن یمان دے او هغهٔ ته هم میزان اعتدال لیس بالقوی ویلے دی او دا رنګ آلوسی په تفسیر روح المعانی کښې دَ دے آیت په تشریح کښې او الصارم المنکی صلا۱۸ کښې دے حدیث ته ضعیف ویلے دی۔ (باقی په بل مخ)

وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۚ وَهُوَ الْعَلِيمُ

او بوډا والے پیدا کوی څه چه اوغواړی اوخاص الله تعالی په هرڅه پوهه

الْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ

او قدرت والا دے۔ او په کومه ورځ چه قیامت قائم شی قسمونه به کوی

الْمُجْرِمُونَ ۙ مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ كَذَٰلِكَ

مجرمان نه وو ایسار شوی دوی زیاته د ساعت نه دغه شان

تنبیه: تفسیر ابن کثیر کښ ډیر احادیث ذکر کړے دی چه دلالت کوی په اوریدلو د مړو باندے؟ اول جواب داد ے چه په هغې کښ هیڅ حدیث صحیح متصل نیشته په بعضو د هغې باندے تفسیر ابن کثیر روح المعانی کښ حکم د ضعف کړے دے او د هریو په سند باندے کلام کولو سره ډیر اوګد والے راځی ځکه مونږ اختصار اوکړو۔ دویم جواب داد ے الشیخ محمد نسیب الرفاعی په مختصر د ابن کثیر ص۳۵۹ کښ ویلے دی چه په نسخه د ابن کثیر طبع بیروتی دارالاندلس کښ زیاتے راغلی دے (د دغه احادیثو وافیو) په بله نسخه د ابن کثیر کښ دش (د ځان نه داخل) کړے شویدے شان د ابن کثیر د دے نه اوچت دے۔

فائده: حافظ ابن حجر فتح الباری کښ د عائشه رضی الله عنها رجوع ذکر کړیده؟ اول جواب داد ے چه ابن حجر دا په شک سره ذکر کړیدے (فان کانت محفوظة) دویم جواب داد ے چه په دیکښ یو راوی یونس بن بکیر دے او هغه ته په تهذیب التهذیب ص۴۳۴ ج۱۱ کښ ئے ضعیف او یے حجته ویلے دی۔

دریم جواب د د ے په سند کښ محمد بن اسحاق دے او هغه ته امام مالک او هیشام او سلیمان تیمی وغیره کذاب ویلے دی۔ نو معلومه شوه چه اثبات د سماع موتی د پاره بغیر د حدیث قرع النعال او حدیث قلیب بدر نه بل هیڅ صحیح حدیث نیشته او د هغه دواړو جواب د تخصیص یا تاویل ذکر کړے شوے دے نو پس د د ے نه صرف د رجالو او د اشخاصو په اقوالو (بے دلیله) سره دهوکه کیدل نه دی پکار۔

۵۴: دا بل دلیل عقلی دے او په دیکښ انقلاب د حالاتو د انسانانو ذکر کوی۔ او تیر شوی ایت سره ربط داد ے چه اسماع او هدایت د د ے وجے نه د الله تعالی په اختیار او قدرت کښ دے چه دا انقلاب د حالاتو چه په دے ایت کښ ذکر دے داهم د الله تعالی په اختیار کښ دے۔ مِنْ ضَعْفٍ مراد تری نطفه ده چه کمزورے او به دی

كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ

دوی اوړیدلے کیدل دَ حق نه ۔ او اوبه وائی هغه کسان چه ورکړے شوبیدے علم

وَالْاِيْمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ

او ایمان یقیناً وخت تیرکړے دے تاسو یه لیکلے شوے رتقدیر) دَ الله تعالیٰ کښ

اِلٰى يَوْمِ الْبَعْثِ ز فَهٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ

تر ورځ دَ دوباره ژوند پورے نو دا ورځ دَ دوباره ژوندے دہ

وَلٰكِنَّكُمْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۵۶﴾

لیکن تاسو وئے چه پوهه هم نه لرله۔

لکه چه سورة مرسلات ستـ۲۰ کښ (ماءٍ مهين) ویلے دی یا مراد تری په حالتِ ضعیفه دے په ابتداء دَ ولادت کښ مِنْ په معنیٰ دَ فی دے ۔ مِنْ بَعْدِ ضُعْفٍ اسم ظاهر ئے ذکر کړو په دے کښ کمزورئے دَ طفولیت ته اشاره ده چه هغه ضعف دَ اتدامونو دے. او قوت نه مراد طاقت دَ ځوانئ دے۔ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ په دے کښ طاقت دَ عقل او پوهے ته اشاره ده۔ ضُعْفًا دَ دے نه مراد ضعف دَ ټولو قوتونو دے وَشَيْبَةً دَ دے نه مراد ښکاره آثار دَ بوډا والی دی چه سپین والے دَ ویښتو دے۔

۵۵۔ په دے کښ تخویف اخروی دے یعنی دَ تیر شوی آیت نه معلومه شوه چه دے انسان په دنیا کښ تر بوډا والی پورے عمر او ژوند تیر کړے دے لیکن دَ هیبت او دَ رعب دَ قیامت دَ وجے نه یا دَ ضد او عناد دَ وجے نه په دوی انکار کوی او قسمونه په کوی او دا رنګ حال دَ دوی په سورة احقاف ستـ۳۵ او په سورة نازعات ستـ۴۶ او په سورة طٰهٰ ستـ۱۰۴ او په سورة مؤمنون ستـ۱۱۲ کښ ذکر دے. كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ یعنی په دُنیا کښ دوی دَ حق دَ خبرے نه اوړیدلے وُو په جهل او ضد کولو سره دغه شان په ورځ دَ قیامت کښ هم دی.

۵۶۔ دا رد دے دَ دوی په دغه انکار باندے۔ اُوْتُوا الْعِلْمَ وَالْاِيْمَانَ هر کله چه ایمان تفصیلی بغیر دَ علمِ قرآن او سنّت نه نهٔ حاصلیګی دَ دے وجے نه علم ئے په ایمان باندے مخکښ کړو۔ فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ کتاب نه مراد تقدیر دے یعنی په هغه عمر او رزق وغیره کښ چه الله تعالیٰ ستاسو دَ پاره مقرر کړے وو یا مراد دَ کتاب نه علم دَ الله تعالیٰ دے او په دے کښ احوال دَ قبر او برزخ هم داخل دی۔

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَعْذِرَتُهُمْ

نو په دغه ورځ نفع به نه ورکوی ظالمانو ته بهانے دَ هغوی

وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿۵۷﴾ وَلَقَدْ ضَرَبْنَا

او نه به دَ دوی توبه قبولے شي . او یقیناً بیان کړیدی موږ

لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ

خلقو ته په دے قرآن کښ دَ هر قسم بیان ته

وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ لَّيَقُولَنَّ الَّذِينَ

او که چرے ته راوړے دوی ته یو آیت نو یقیناً وائی هغه څوک

كَفَرُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿۵۸﴾

چه کفر ئے کړے دے چه تاسو نه یئ مګر باطل پرست یئ .

كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ

دغسے مهر وهی الله تعالیٰ په زړونو دَ هغه چاچه

۵۷:۔ دا هم تخویف کښ داخل دے یعنی روستو دَ شهادت کولو دَ اهل علمو نه دَ دوی هیڅ بهانه منظوره نه ده۔ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ دا دَ عتبیٰ نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ رجوع کولو سره او مراد دَ رجوع نه توبه کول دی یعنی دَ دوی نه به توبه نه طلب کیږی یا دَ عتاب نه دے او استفعال دَ پاره دَ سلب دے یعنی ازاله دَ عتاب (خفګان) او مراد تری نه رضا کول دی یعنی دَ دوی نه به رضا کیدل نشی کیدا ے۔

۵۸:۔ په دے کښ اول ترغیب دے قرآن ته او آخری زجر دے منکرینو ته یعنی عذر ورته ځکه نفع نه ورکوی چه الله تعالیٰ دَ قرآن په ذریعه دَ دوی عذر زائل کړے دے او بیا هم دوی انکار کوؤ۔ مِن كُلِّ مَثَلٍ مراد دے نه مختلف قسمونه دَ بیان دی۔ دلیلونه، مثالونه، زجرونه، بشارتونه، تخویفات وغیره۔

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ هرکله چه معجزه راوړل صرف دَ پیغمبر کار دے په اذن دَ الله تعالیٰ سره او بیا ورسره مؤمنان ملګری شی نو دَ دے وجے نه جِئْتَهُم کښ مخاطب ئے مفرد ذکر کړو او إِنْ أَنتُمْ کښ جمع ذکر کړه۔

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۹﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ

نه پوهیږی پس صبر کوه یقیناً وعده دَ الله تعالیٰ حقه ده

وَّلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِيْنَ لَا يُوْقِنُوْنَ ﴿۶۰﴾ ع

او بے همته نکړی تا لره هغه کسان چه یقین نه لری۔

رکوع

ف۶۰:۔ دا تسلّی ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او تفریع ده په ټول سورت باندے یعنی هرکله چه سورت کښ دلیلونه تفصیلی اومثال اوزجرونه وغیره بیان شول اوبیا هم دا منکرین ضد او عناد کوی نو صبرکوه دَدوی په انکار باندے۔ اودا ایت متعلق دے دَ ابتداء دَ سورت سره یعنی وَعْدَ اللّٰهِ نه مراد نصرت دے دَمؤمنانو سره دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه۔ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ مراد دَ دے نه تا لے صبرے دَ وجے نه عذاب غوښتل دی په تلوار سره او دعوت او تبلیغ پریخودل دی۔

تمّ تفسیر سورة روم والحمد لله واستغفرالله تعالیٰ

سُوْرَةُ لُقْمٰنَ ۳۱ مَكِّيَّةٌ ۵۷ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۳۴ رُكُوْعَاتُهَا ۴

الٓمّٓ ① تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْحَكِيْمِ ②

الله تعالیٰ ذدے په مراد باندے ښه پوهه دے۔ دا اياتونه دَ داسے کتاب دی چه دَ حکمتونو نه ډک دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُورۃ لقمان

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سره په ډیرو وجوهو سره دے۔ اوّله وجه دا چه سورۃ عنکبوت کښ ترغیب وو جهاد او دعوت ته نو سورۃ روم کښ دَ هغے نتیجه ئے بیان کړه په نصرت او انقلاب سره۔ نو اوس په دے سورت کښ دَ هغهٔ جهاد طریقه بیانوی په واقعه دَ لقمان سره چه په دے طریقه جهاد اوکړے شی نو نصرت الٰهی به حاصلیګی یعنی لقمان دعوت شورو کړے دے دَ رد دَ شرک نه دا رنګ هغهٔ دعوت دَ عقیدے او دَ اعمالو او دَ اخلاقو کړے دے او دا دین کامل دے او دا رنګ هغهٔ شورو کړے وه دَ قریب نه چه حوئے دے۔ دوّیمه وجه دا ده سورۃ روم کښ دَ هغه بادشاهانو ذکر ئے کړے وو چه دَ هغوی مجاهده صرف دَ دُنیا دَپاره وه او دَ هغوی دینی امراضو باندے ئے رد اوکړو نو په دے سورت کښ دَیو غلام حبشی مسکین مجاهده دینی ذکر کوی او دَ هغهٔ مدحه کوی چه دے خاوند دَ حکمت وو۔ دریمه وجه دا ده چه مخکښ اثبات دَ توحید ئے صرف په عقلی دلیلونو سره کړے وو نو په دے سورت کښ دلیل نقلی دَیو حکیم نه راوړی اشاره ده چه توحید صرف دَ پیغمبرانو مسئله نه ده بلکه دَ حکمتِ عقلیه سره هم موافق ده۔

دعویٰ دَ دے سورت۔ اثبات دَ توحید دے په دلیل نقلی سره دَ عقلی دلیلونو تفصیلونه او مأخذ دَ دعوے ۱۲کښ دَ او رد دے په دریے قسمونو دَ شرک باندے شرک فی التصرف او شرک فی العلم او شرک فی الدُعاء۔

خلاصه دَ دے سورت۔ دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته۔ اول باب دے تر ۱۹ پورے په دے کښ اولاً ترغیب دے قرآن ته په ذکر دَ څلورو صفاتو دَ قرآن او څلور صفات دَ اهلِ قرآن سره تر پنځم ایت پورے بیا زجر دے منکرینو دَ قرآن ته په شپږ قباحتونو دَ هغوی سره، سره دَ تخویف او بشارت نه د ۱۰ نه تر ۹ پورے

هُدًى وَّرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِيْنَ ۝٣ الَّذِيْنَ
هدایت او رحمت دے دپاره د خائسته کارکوونکو هغه کسان دی
يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ
چه پابندی کوی د مونځ او ورکوی زکوٰة او دوی
بِالْاٰخِرَةِ هُمْ يُوْقِنُوْنَ ۝٤ اُولٰٓئِكَ عَلٰى
په آخرت باندے یقین لری. دغه صفتونو والا په
هُدًى مِّنْ رَّبِّهِمْ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥
هدایت باندے دی د طرف د رب د دوی نه او دغه کسان خاص دوی کامیاب دی ۔

بیا یو دلیل عقلی تفصیلی دے په ۱۰ ـ ۱۱ کښ بیا دلیل نقلی دے د لقمان نه د هغه فائدو دپاره کوم چه مخکښ بیان کړے شوے تر ۱۹ پورے۔

تفسیر

۱ :- دا د مقطعاتو نه دے دپاره د اظهار د اعجاز د قران۔

۲ ـ ۳ ـ ۴ :- په دے آیاتونو کښ ترغیب دے قران ته په ذکر د څلورو صفتونو د قران. چه کتاب، حکیم، هدی، رحمت دے او څلور صفتونه د قران والو دی او دغه صفتونه آثار دی د صداقت د قران لفظ الحکیم کښ اشاره ده چه قران کریم د حکمتونو نه ډک دے د دے وجے نه د دے مقصد سره حکماتو هم موافقت کړے دے. اَلْمُحْسِنِيْنَ هغه چا ته وائی چه د هغوی عقیده او عمل مشتمل وی په حسن شرعی سره یعنی توحید او اخلاص او اتباع د سنت پکښ موجود وی. يُوْقِنُوْنَ، تفسیر سراج المنیر کښ ویلے دی چه دا هغه کسان دی چه نه کوی دا سے کار چه منافی وی د ایمان سره او نه غافل کیږی د آخرت د یاداشت نه رب د ستر گے په قدار هم۔

۵ :- دا بشارت دے په سبب د دغه څلورو صفتونو سره او دا سے سورة بقره ۵ کښ هم تیر شوے دے او په دے کښ ډیر تاکیدات دی اول لفظ د عَلٰى چه دلالت کوی په اوچت والی او تمکن (کلکیدلو) باندے۔ هُدًى نکره دپاره د تعظیم ده۔ مِنْ رَّبِّهِمْ یعنی هدایت په دعوی د دروغو سره نه دے۔ اَلْمُفْلِحُوْنَ فلاح په قران کښ په باره د مؤمنانو کښ دے نه وائی چه د هر مضرت او تکلیف نه بچ وی او هر مقصد ئے حاصل شی او دا حالت بغیر د جنت نه نه حاصلیګی او په دخول اول د جنت سره ملاویږی د دے وجے نه د فلاح نه مراد اول داخلیدل دی جنت ته چه د اُور د جهنم نه بالکل بچ وی ـــــــ

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ

اوبعض دَ خلقو نه داسے دی چه اخلی بے فائدے خبرے

لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ

دَپاره دَ دے چه واړوی خلق دَ لار دَ الله تعالیٰ نه بے غیره دَ دلیل نه

وَّيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ؕ اُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ

او گرځوی هغه لره ټوقے دغه کسان دوی لره عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿۶﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِ اٰيٰتُنَا

ذلیل کوونکے دے. او کوم وخت چه اولوستلے شی په دهٔ باندے ایاتونه زمونږ

وَلّٰى مُسْتَكْبِرًا كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا كَاَنَّ

او گرځی لوئی کوونکے گویا کے دهٔ نه دی اوریدلی (دا ایتونه) گویا کے

سلا، په دے ایت کښ زجراو تخویف دے مخالفینو دَ قران ته او دَ هغوی درے حالات ذکر دی او اشتراء دَ لهوالحدیث. مراد دَ اشتراءِ نه خوښول او غوره کول دی او اشتراء ئے ذکر کړه اشاره ده چه په دے باندے خپل مال هم قربانوی. او لَهْوَ الْحَدِيْثِ کښ اضافت په معنیٰ دَ مِنْ بیت سره دے یا اضافتِ بیانیه دے او حسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه هرهغه شے دے چه غافل کوی انسان لره دَ قران کریم نه اودَ بندگئ دَ الله تعالیٰ نه نو داخل دی په دَ کښ، دَ شرکیاتو او بدعاتو قِصّے او دَ فسق وفجور گپ شپ او هغه عملونه دنیوی چه انسان لره دَ قران نه غافل کړی او داخل ده په دے کښ غِنا، مراد دَ غِنا نه غزلے او لوبے ویل دی که دَ هرے ژبے وی او اسباب دَ ډمنوب او تې وی وغیره. اوخطیب شربینی ویلے دی چه غِنا مال لره ختموی او ربّ تعالیٰ لره خفه کوی او زړهٔ لره بربادَوی. لِيُضِلَّ کښ اشاره ده لکه چه دے گمراه دے نو نورخلق هم گمراه کوی. سَبِيْلِ اللّٰهِ نه مراد قران دے. بِغَيْرِ عِلْمٍ کښ اشاره ده چه هرضال مضل جاهل دے هُزُوًا دَ دے نه مراد دادے چه سپک او بے مقصده گنړی قران لره او دا سبب او گرځی دَپاره دَ مسخرو کولو نو دَ دے وجے نه هُزُوًا تو قوته هم وائی.

فِىٓ اُذُنَيْهِ وَقْرًا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٧﴾

په غوږونو دَدهٔ کښې درونوالے دے نو زیرے ورکړه دهٔ لره په عذاب دردناک سره.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

یقینًا هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړی دی موافق دَ سنّت سره

لَهُمْ جَنّٰتُ النَّعِيْمِ ﴿٨﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

دوی لره جنتونه دَ نعمتونو دی همیشه به وی دوی په هغې کښې

وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا ؕ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٩﴾

وعده کړے ده الله تعالیٰ یقینی ده او خاص الله تعالیٰ زورَور او حکمتونو والا دے.

سـ٧:- په دے کښې نور درے قبائح دَ منکرینو دَ قرآن ذکر کوی سرهٔ دَ تخویف نه او په دے کښې ترقی دَ انکار ده یعنی بخپله خو دے دَ قرآن نه غافل دے لیکن که څوک دهٔ لره دَ غفلت نه بیدارَوی په بیان دَ قرآن سره نو بیا ئې لوئی کوی. حاصل دا چه دَ قرآن دَ پوهیدلو کوشش نه کوی او بل نه ئې هم نه اوری.

فائده:- تیر شوی ایت عذاب مهین ذکر کړو او په دے کښې ئې عذاب الیم ذکر کړو، وجه دا ده چه اوّل ایت کښې کوم عملونه ئې ذکر کړیدی په هغې کښې اهانت دَ کتاب الله دے دَ طرف دَ دے کافرانو نو سزا ئې په عذاب مهین سره مناسب ده، او په دویم ایت کښې دلسے صفات ئې ذکر کړے دی چه زړهٔ دَ مؤمن لره درد ورکوی نو مناسب دَ دهٔ سره عذاب الیم دے.

سـ٨ سـ٩:- په دے ایاتونو کښې بشارت ذکر کوی دَ پاره دَ اول جماعت. جَنّٰتُ النَّعِيْمِ دا الفاظ نه دوا ره جمع دی او اضافت بیانیه دے او په دے کښې فائده دا ده چه جنتونه ټول نعمتونه دی ئے نعمته وخت او ځائے پکښې نیشته او که برعکس ئې ویلے وے یعنی نَعِيْمِ الْجَنّٰتُ نو وهم ترینه پیدا کیدلو چه بعضِ حالات دَ جنتونو نعمتونه نه دی. وَعْدَ اللّٰهِ هر کله چه تیر شوے ایت په منزله دَ وعدے کولو دے نو دا مصدر مؤکده ئې ذکر کړلو یعنی وعد الله وعدا. حَقًّا دَ زیادتِ تاکید دَ پاره ئې دا بله جمله ذکر کړیده چه په اصل کښې احقّه حقا دے.

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا وَاَلْقٰى

پیدا کړیدی اسمانونه په غیر د ستنونه وینئ تاسو هغه او اچولی دی

فِى الْاَرْضِ رَوَاسِىَ اَنْ تَمِيْدَ بِكُمْ وَبَثَّ

په زمکه کښې پاخه غرونه دے دپاره چه او نه خوځیګی په تاسو پاندے او خوره کړیدی

فِيْهَا مِنْ كُلِّ دَآبَّةٍ ؕ وَاَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ

په دے کښې هر قسم ژوندی سر او راورولے دی موږ د طرف د اسمان نه

مَآءً فَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ⑩

اوبه نو زرغون کړے دی موږ په هغے کښې د هر قسم بوټی فائدو والا نه.

هٰذَا خَلْقُ اللّٰهِ فَاَرُوْنِىْ مَاذَا خَلَقَ الَّذِيْنَ

دا پیدائش د الله تعالیٰ دے نو اوخئیئ ماته چه څه دی هغه چه پیدا کړیدی هغه کسانو

مِنْ دُوْنِهٖ ؕ بَلِ الظّٰلِمُوْنَ فِىْ ضَلٰلٍ

چه سوا د الله تعالیٰ نه دی بلکه ظالمان په ګمراهئ

مُّبِيْنٍ ⑪ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا لُقْمٰنَ الْحِكْمَةَ ع ۱۰

ښکاره کښې دی. او یقینًا ورکړے وو موږ لقمان ته پوخ علم (ورته ئې ویلی وو)

سـ۱۰. دا اول دلیل عقلی دے دپاره د توحید او په دے کښې شپږ نعمتونه عظیمه ئې ذکر کړیدی چه هغه دلالت کوی چه الله تعالیٰ العزیز الحکیم دے. د اولے جملے تائید په سورة رعد سـ۲ کښې او د دویمے په سورة نحل سـ۱۵ او انبیاء سـ۳۱ کښې تیر شویدے او دریمه جمله په سورة بقره سـ۱۶۴ او څلورمه پنځمه جمله ئې خو ډیر کرته ذکر کړیده.
زَوْجٍ قسمونه د بوټو او اونو نه، او هرکله چه اکثر بوټی د یو بل سره مشابهت لری د دے وجے نه زوج ئې اُویل. كَرِيْمٍ کرامت د هغے فائدے دی د خوراک پوشاک وغیره.

سـ۱۱. دا تفریع ده په مخکښې دلیل باندے او رد دے په مشرکانو باندے یعنی چه ستاسو معبودان خَلْق (پیدائش) نشی کولے نو څه رنګه حقدار د عبادت ئې ګڼړئ.

أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ ۚ وَمَنْ يَّشْكُرْ فَاِنَّمَا يَشْكُرُ

چه شکر کوه دَ الله تعالیٰ او چاچه شکر اوکړو نو یقیناً شکر کوی

لِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ﴿١٢﴾

خپلې فائدې لره او چاچه ناشکری اوکړه نو یقیناً الله تعالیٰ بےحاجته ستائیلے شویدے۔

وَاِذْ قَالَ لُقْمٰنُ لِابْنِهٖ وَهُوَ يَعِظُهٗ يٰبُنَيَّ

او کوم وخت چه اُویل لقمان خپل ځوئی ته او وعظ ئې ورته کاؤ اے زما ځویه

۳ ـ دا دلیل نقلی دے په توحید باندے او اشاره ده چه عقیده او طریقه دَ دے مشرکانو لکه چه انبیاؤ دَ طریقے نه خلاف ده نو دارنګ دَ حکماؤ دَ طریقے نه هم خلاف ده۔ دارنګ حکمت مقابل دَ ظلم دے ځکه چه ظلم استعمال دَ شے دے په بے مناسبه ځائے کښ او حکمت استعمال دے په مناسب ځائے کښ نو دَ دے وجے نه دَ ظالمانو دَ رد نه بعد دَ حکمت امور ذکر کوی نو ځکه ئې په عطف سره ذکر کړیدے۔

لقمان بن باعوراء، دَ دهٔ په باره کښ اختلاف دے چه پیغمبر وؤ او که ولی وؤ صحیح دا ده چه ولی الله وؤ او دَ عکرمه نه په کوم روایت کښ چه نقل ده چه دے نبی وؤ نو دَ هغے په سند کښ جابر جعفی ضعیف راوی دے اکثر مفسرینو لیکلی دی چه دے غلام حبشی نجّار (ترکان) وؤ او لقمان دَ ایوب علیه السّلام خوریئے وو یا دَ ترور ځوئے وؤ او دَ داؤد علیه السّلام نه ئې بعض علمونه حاصل کړی دو او ډیر حکمتونه الله تعالیٰ دهٔ ته په طریقه دَ الهام سره خودلے دی۔ الحِكْمَةَ هغه علم دے چه پوښ وی په عمل سره او هر شے په خپل مناسب ځائے کښ استعمالول او دَ څیزونو په فائدو باندے پوهه لرل دا حکمت دے۔

او دَ لقمان دَ حکمت ډیر واقعات او اقوال ابن کثیر په تفسیر کښ ذکر کړے دی۔ او حکمت دوه قسمه دے حکمت دنیویه او حکمت دینیه۔ قابل تعریف دا دویم قسم دے دَ دے وجے نه تفسیر دَ الحکمة ئې ذکر کړو په أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ سره یعنی احسانات دَ الله تعالیٰ منل او دَ هغهٔ په رضا سره استعمالول دا لوے حکمت دے او علم بیانول او دعوت کول دا شکر دَ علم دے۔ أَنِ اشْكُرْ لِلّٰهِ یا تفسیر دے دَ حکمة یا دَ دے سره لفظ دَ قلنا له پټ مراد دے۔ او روستو آیاتو کښ دَ حکمت او دَ شکر ئې تفصیل کړے دے۔

لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ ۗ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴿۱۳﴾

شرک مهٔ کوه دَ الله تعالیٰ سره یقینًا شرک لوئے ظلم دے۔

وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ

او پوخ حکم ورکړو موږ انسان ته دَ مور او پلار سره (دَ احسان کولو) پورته کړے وؤ دهٔ لره

أُمُّهُ وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ

مور دَدهٔ په کمزوری حال په بل کمزوری حال باندے او جدا کول یې دَ پیودو کولو نه په دوه کاله کښې دی (حکم دا دے)

أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿۱۴﴾

چه شکر کوه زما او دَ مور او پلار ستا خاص ما ته ستاسو راګرځېدل دی۔

وقف النبی صلی الله علیه وسلم

النصف

سـ۱۳۔ دا اول قسم شکر دے یعنی عالم د دَ شرک تردید اوکړی او اول دَ خپلوانو اصلاح د اوکړی او خصوصًا دَ خپل اولاد اصلاح کول په عقیدهٔ صحیحه سره دا لوے حکمت دے. که څوک کدهٔ مشرک وؤ نو دا وعظ دے هغهٔ ته دَ پاره دَ پرېښودلو دَ شرک او که مشرک نه وؤ نو وعظ دے دَ پاره دَ تاکید او تثبیت په عقیدهٔ دَ توحید باندے.
إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ دَ دے وجے نه ظلم خو استعمال دَ شے دے بے ځایه نو په شرک کښې دَ انعاماتو دَ الله تعالیٰ نسبت وی بل چاته لکه په شرك فی التصرف کښې. او عبادت او حقوق دَ الله تعالیٰ ادا کول دی بے ځایه لکه په شرك فی العبادة والدعاء کښې.
او صفتونه دَ الله تعالیٰ بل لره ثابتول او یا دَ هغهٔ صفتونه دَ مخلوق سره مشابه کول یا دَ هغهٔ دَ اسماؤ صفاتو نه انکار کول دا شرك فی الاسماء والصفات دے. دا رنګ دَ الله تعالیٰ علم خاص (یعنی علم غیب) بل چا لره ثابتول لکه په شرك فی العلم کښې.
دَ دے وجے نه شرك لوے ظلم دے.
سـ۱۴۔ هر کله چه ذکر شو چه اصلاح دَ پلار ځوئي لره دا حکمت دے نو ذکر کوی چه دا رنګ احسان او خدمت او عزت کول دَ اولاد خپل مور او پلار لره دا هم حکمت دے. او دا دوه آیاتونه جمله معترضه ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په مینځ دَ نصیحتونو دَ لقمان کښې او مقصد یې دَ شرک قباحت ذکر کول دی هغه دا چه مور او پلار سره احسان کول خو فرض دی لیکن په شرک کښې به دَ هغوی خبره نشي منلے کیدے. وَ وَصَّيْنَا. وصیت پوخ حکم ته ویلے کیږی چه نه منسوخ کیږی.
حَمَلَتْهُ دا ذکر سبب دَ وصیت دے سره دَ تقدیر دَ عبارت نه یعنی (خصوصًا بوالدته لانها حملته اه) یعنی دَ مور حق زیات دے دَ وجے دَ ډیر محنت او مشقت دَ

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ

اوکه زور کوی درته پر تا باندے چه شریک جوړ کړے ما سره هغه څوک چه نشته

لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا

تاته په هغه باندے دلیل نو ئه کوی خبره ددوی او ملګرتیا ددوی کوه

فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا وَاتَّبِعْ سَبِيلَ مَنْ

د دنیا په کارکښ نیکه ملګرتیا او روان شه په لار د هغه

أَنَابَ إِلَيَّ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ

چا چه راګرځی ما ته بیا ما طرف ته ستاسو راګرځیدل دی نو خبر به درکړم

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ

په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئے. اے زما ځویه یقیناً خصلت (د نیکی یا بدئ) که چرته وی

هغ نه. وَهْنًا عَلَىٰ وَهْنٍ، اشاره ده ډیرضعف دَ هغ او مشقت دَ هغ ته. تکلیف دَ حمل او تکلیف دَ وضع دَ حمل لکه سورة احقاف ۱۵ کښ. وَفِصَالُهُ په دے کښ اشاره ده تکلیف دَ تربیت او پئ ورکول ېي ته او تکلیف دَ پیؤ نه پریکول. فِي عَامَيْنِ لکه چه سورة بقره ۲۳۳ کښ ذکر دی او اشاره ده چه دَ پیؤ ورکولو مدت دوه کاله دے او دا صریح او صحیح قول دے. أَنِ اشْكُرْ لِي دا متعلق دے دَ وصينا سره هر کله چه الله تعالیٰ حقیقی منعم دے او بل دا چه دَ حق دَ والدینو حفاظت الله تعالیٰ کړے دے او بل دا چه دَ شکر دَ والدینو ثواب موقوف دے په شکر دَ الله تعالیٰ باندے دَ دے وجه نه ئے ان اشکرلی اول ذکر کړو. هر کله چه لقمان ته حکم دَ شکر وؤ نو دَ هغ دَ مناسبت دَ وجے نه دلته هم شکر ذکر کړو او په سورة عنکبوت ۸ کښ مخکښ شکر نه وؤ ذکر کړے نو دَ دے وجے حسناً ئے رواندے ذکر کړے وؤ.

۱۵:- دا قباحت دَ شرک دے روستو دَ بیان دَ حقوق دَ والدینو نه یعنی اګرچه دَ والدینو حق فرض دے لیکن دَ شرک په مقام کښ دَ هغوی دَ اطاعت حق ساقط دے او حدیث کښ عام رائلے دی چه لا طاعة لمخلوق فی معصية الخالق یعنی په هیڅ ګناه کښ دَ هیڅ مخلوق طاعت نشی کیدلے. وَإِنْ جَاهَدَاكَ کښ اشاره ده ډیر تاکید ته یعنی که دواړه مور او پلار متفق وی په دعوت دَ شرک باندے او زیاتے په بل مخ)

مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِيْ صَخْرَةٍ

په قدر د دانے د اوړی نو که وی پټ په ګټه کښ

اَوْ فِي السَّمٰوٰتِ اَوْ فِي الْاَرْضِ يَاْتِ بِهَا اللّٰهُ ۚ

یا وی (په بل ځائے) د اسمانو کښ یا په زمکه کښ راوړی به هغه لره الله تعالیٰ

اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ﴿۱۶﴾ يٰبُنَيَّ اَقِمِ الصَّلٰوةَ

یقینًا الله تعالیٰ دیق باریک څیزونه خبردارے دے. اے زما ځویه پابندی کوه د مونځ

صرف امر نه کوی بلکه کوشش کوی او زور لګوی لیکن بیا هم د هغوی طاعت کول حرام دی. فِي الدُّنْيَا یعنی امور د دنیا کښ د دوی تعاون کول پکار دی په دے شرط چه معروف وی یعنی د شرع نه خلاف نه وی او مصاحبت په معروف سره دا دے چه نیک اخلاق او نرمی ورسره ضروری ده او په دے کښ دعوت الی الحق هم داخل دے. وَاتَّبِعْ وروسته د دے وجے نه ذکر کړو چه په کار د دین کښ مداهنت او نکړے شی. مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ، مراد تری نه مخلص مؤحد او متبع د سنت دے.

فائده:- خطیب شربینی ویلے دی چه په دے کښ تنبیه ده قریشو مشرکانو ته په غلطئ د هغوی باندے په تقلید د اباؤ کښ او پریخودل د هغوی اتباع د نبی صلی الله علیه وسلم لره. او بله فائده ئے دا ذکر کړے ده چه په دے کښ تیزی ورکول دی په پیژندلو د رجالو په حق سره او (امر بحك المشائخ وغیرهم علی محك الكتاب والسنة فمن كان عمله موافقا لهما اتبع ومن كان عمله مخالفا لهما اجتنب)

ترجمه. حکم دے په محلومولو د علماؤ وغیره په کسوټے د کتاب الله او د سنت سره پس د چا عمل چه د دے دواړو سره موافق وی تابعداری به ئے کیدیشی او د چا عمل چه د دے دواړو نه مخالف وی نو ډډه به تری نه کیدیشی.

(تنبیه) هر کله چه په دے مقام کښ مقصد زیات قباحت بیانول د شرک دی په تائید د قول د لقمان چه شرک لوے ظلم دے د دے وجے نه دلته ئے په علی ان تشرك سره ذکر کړو او سورة عنکبوت کښ صرف جاهداه (کوشش کول) د مور او پلار ئے ذکر کړے ده د پاره د شرک کولو د اولاد ، نو هلته کښ په لِ سره ذکر کړے وو.

سلا:- په دے ایت کښ دفع د وهم ده که څوک خیال اوکړی چه که چرته مونږ ګناه د شرک یا د مور او پلار ناشکری یا د هغوی طاعت په شرک کښ (دا ګناه وته) پټه اوکړو نو چا ته به د هغے علم وی؟ نو حاصل د جواب دا دے چه هیڅ څیز او هیڅ ګناه

وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ

او حکم کوه دَ نیکئ او منع کوه دَ بدئ نه او صبر کوه

عَلَىٰ مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿١٧﴾

په هغه مصیبتونو باندې چه تاته درسیگی یقیناً دا دَ ضروری کارونو نه دی۔

وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ

او مه کړه ده انگی خپل (په وخت دَ خبرو) دَ خلقو سره او مه گرځه

دَ الله تعالیٰ نه پټ کیدلے نشی۔ اِنَّهَآ ضمیر خطیئة (گناه ته راجع دے) او هر کله چه پټ کیدل دَ یو څیز کله دَ وړوکوالی دَ وجې نه او کله دَ پردے دَ وجې نه وی او کله دَ لرې والی دَ وجې نه وی او کله دَ ظلمت (تیرو) دَ وجې نه وی نو دے څلورو ته ئې اشاره اوکړه په ترتیب سره۔ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ اول ته اشاره صَخْرَةٍ دویم ته اشاره ده فِی السَّمٰوٰتِ دریم حالت ته اشاره ده او فِی الْاَرْضِ څلورم ته اشاره ده۔ که څوک سوال اوکړی چه صخرة ئې دَ اسمانونو او زمکې په مقابله کښ ذکر کړے دے نو آیا صخره دَ دوی نه بهر ده؟ جواب دادے چه دا تعمیم بعد التخصیص دے تقدیر دَ عبارت داسے دے۔ فی صخرة (من السمٰوٰت والارض) او فی موضع اٰخر منهما، او دا قول غلط دے چه څوک وائی چه دا کټه ده دَ زمکو دَ لاندے ده او په هغې باندے غوئې ولاړ دے وغیره وغیره۔

سکا:۔ روستو دَ بیان دَ عقیدے (یعنی دَ رد دَ شرک نه) بیان دَ اعمالو او اخلاقو دے۔ په دے ایت کښ څلور اعمال ذکر کوی۔

اول اقامة الصلوٰة، اشاره ده چه دا عبادت په ټولو دینونو کښ دے او دا اهم دے په ټولو عباداتو کښ۔

دویم امر بالمعروف او دریم نهی عن المنکر، یعنی دَ خپل کمال نه روستو دَ نورو خلقو دَ تکمیل کوشش کول فرض دی۔ څلورم صبر دے په مصیبتونو بدنیه یا مالیه یا تکوینیه لکه مرضونه او حوادث یا تشریعیة یعنی احکام شرعیه وی نو په هغې صبر کار دے۔ عَزْمُ الْاُمُوْرَ۔ عزم په معنیٰ دَ معزوم دے یعنی هغه کارونه چه فرض کړے شوے وی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او دَ هغې ادا کوونکو ته اولوالعزم ویلے کیږی۔

فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ

په زمکه کښې په لوئی او نازسره — یقینًا الله تعالی نه خوښوی — هر لوئی کوؤنکے

مُخْتَالٍ فَخُورٍ ﴿۱۸﴾ وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ

خپله ستائینه کوؤنکے — او میانه روی کوه — په رفتار خپل کښې

وَاغْضُضْ مِن صَوْتِكَ ۚ إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ

او ښکته کره — بعض آواز خپل — یقینًا — ډیر ناکاره دَ آوازونو نه

لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ﴿۱۹﴾ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ

خوامخواه آواز دَ خر دے۔ — آیا نه گورئے تاسو چه — یقینًا — الله تعالی

ع ۲ / ۱۱

سـ۱۸ :۔ روستو دَ بیان دَ احمالو نه او اوامرو نه ذکر دَ اخلاقو منهیو دے چه په هغې سره نفرت دَ خلقو پیدا کیږی. او دا اخلاق (منهیه) دَ متکبرینو دی. وَلَا تُصَعِّرْ صعر په اصل کښې یو مرض دے چه په اوښانو باندے راځی او په هغې سره یې سټ کوږ شی او مخ یې واوړی. نو په دے کښې اشاره ده تذلیل دَ دا سے انسان ته چه په دے خوئی سره دَ مرضی اوښ پشان شی او مراد تربینه دا دے چه ته چا سره خبرے کوے یا تا سره څوک خبرے کوی نو ته مخ برابر کړه لکه چه دا سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دی او چه خبرے دَ یو کس سره وی او مخ یې تربینه بل طرفته گرځولے وی دا دَ متکبر صفت دے. لِلنَّاسِ دا لام دَپاره دَ علت دے یعنی دَ وجے دَ توهین (سپک گنڑلو) دَ خلقو نه. هاں که دَ الله تعالی حکم وی چه مخ تربینه واړوه (اعرض عنهم) نو هغې ته دا نه دے شامل. وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا، دا سے سورة اسراء سـ۳۷ کښې تیر شویدی هر هغه تلل او گرځیدل چه دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه خلاف وی هغه په دے نهی کښې داخل دی. که رقص (گډا) وی یا په ناز و نزاکت سره گرځیدل وی. مُخْتَالٍ فَخُورٍ، دا سے سورة نساء سـ۳۶ کښې تیر شویدی مُخْتَالٍ هغه دے چه نور خلق سپک گنڑی دَ خپل ځان په مقابله کښې او فَخُورٍ هغه دے چه خپل صفتونه بیځله کوی دَپاره دَ ځان لوے گنڑلو په نور خلقو باندے.

سـ۱۹ :۔ تیر شوی آیت کښې منع وه دَ هغه کارونو نه چه دلالت کوی په ناکاره صفاتو باطنیو باندے چه هغه تکبر دے نو په دے آیت کښې ذکر دَ صفاتو ظاهریو دے، اول صفت اقتصاد دَ مشی، میانه روی کول یعنی چه ډیر تیز نه ځی او ډیر په دمه باندے هم نه ځی او ډیر نیغ نه گرځی او کوږ هم نه گرځی او هر کله چه انسان

سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ

په خدمت ستاسو کښې لګولے دی هغه څه چه په آسمانونوکښې دی او هغه څه چه په زمکه کښې دی

وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ظَاهِرَةً وَّبَاطِنَةً ؕ

او پوره کړے دی په تاسو باندے نعمتونه خپل ښکاره او پټ

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ

او بعضې د خلقو نه هغه دی چه جګړے کوی په توحید د الله تعالیٰ کښې بغیر

عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ﴿٢٠﴾

د دلیل نه او د هدایت نه او د کتاب رڼرا کوؤنکی نه ۔

په رفتار کښې د سنت د نبی صلی الله علیه وسلم تابعداری کوی نو معلومه شوه چه په هر کار کښې د سنت تابع دے ۔ دویم صفت آواز ښکته کول ۔ مِنْ صَوْتِكَ لفظ د مِنْ دلیل دے چه کله آواز اوچتول ثواب دے لکه اذان او تلبیه ۔ اِنَّ اَنْكَرَ الْاَصْوَاتِ اشاره ده چه په دے کارکښې نورو خلقو ته تکلیف ورکول دی ۔ لَصَوْتُ الْحَمِيْرِ د دے تخصیص وجه دا ده چه نور حیواناتو آواز د ضرورت په وخت کښې اوچتوی چه بوج پرے راشی یا ستړے شی ، او خر بغیر د ضرورت نه آواز را اوباسی او کله چه بوج پرے درونډ شی یا تور تکلیف وی نو بیا آواز نه را اوباسی ۔ او دا دلیل دے چه څوک ذکر د الله تعالیٰ په اوچت آواز سره کوی په غیر د شرعی دلیل نه نو هغه مشابه دے د خر سره ۔

ﷺ ۔ د دے نه تر آخره پورے دویم باب دے په دے کښې باقی اٹه عقلی دلیلونه دی ﷺ ﷺ ﷺ ﷺ ﷺ ﷺ ﷺ ﷺ او زجرونه دی ﷺ ﷺ ﷺ ﷺ او بشارت ﷺ او تخویف اخروی ﷺ او رد د شرك فی الدعاء دے په ﷺ کښې ۔

په دے (ﷺ) کښې دویم دلیل عقلی دے یعنی دا ټول څیزونه ستاسو د فائدے د پاره الله تعالیٰ لګولے دی او دغه فائدے دا سے حکمتونه دی چه لقمان حکیم په هغے باندے پوهیدلو چه دا د الله تعالیٰ د طرف نه دی وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهٗ ، یعنی دغه فائدے نعمتونه د الله تعالیٰ دی ۔ ظَاهِرَةً مراد ترینه هغه دی چه عام خلق هغه پیژنی لکه ظاهری بدن او مال د اولاد او شکل وصورت وغیره ۔

وَّبَاطِنَةً هغه مراد دی چه اهل علم په هغے باندے پوهه دی ۔ لکه اسلام ، قرآن ، محبت د الله تعالیٰ او د رسول اوزړه ، عقل فهم وغیره ۔ (رپاتے په بل مخ)

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا

او کوم وخت چه اُوویلے شی دوی ته تابع شئ دَ هغه چه نازل کړے دے الله تعالیٰ دوی وائی

بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا ۚ

بلکه مونږ تابعداری کوو دَ هغه طریقے چه موندلے دی مونږ په هغے پلاندے مشران خپل

أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ

آیا اګرچه وی شیطان بلل ئے هغوی عذاب دَ اور

السَّعِيرِ ﴿٢١﴾ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ

لمبو والا ته. او چا چه تابع کړو خپل مخ الله تعالیٰ ته

وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ

او دے وی اخلاص کوونکے نو یقینًا کلکه اونیوله دهٔ کړے

وَمِنَ النَّاسِ زجر دے روستو دَ دلیل ته او په دے کښ عنادیان منکرین مراد دی چه حق ورته ښکاره شوے دے او بیا هم جګړے کوی. بِغَيْرِ عِلْمٍ یعنی دا سے پوهه ورسره نیشته کوم چه دَ دلیل یقینی نه حاصل شوے وی یعنی دلیل عقلی. وَلَا هُدًى مراد تری نه هغه هدایت دے چه دَ رسول نه نقل وی یعنی دلیل نقلی ورسره نیشته. وَلَا كِتَابٍ مراد تری نه کتاب دَ الله تعالیٰ دے یعنی دلیل وحی ورسره هم نیشته.

۲۱:. دا بل زجر دے یعنی دلیلونه ورسره نیشته لیکن تقلید دَ پلارانو ورسره شته او دائے دَ بِغَيْرِ عِلْمٍ په مقابله کښ ذکر کړے دے معلومه شوه چه تقلید څه علم نه دے. آبَاءَنَا مراد تری نه مشران علماء دی صرف نسبی پلاران تری نه مراد نه دی لکه امام راغب په مفردات کښ ویلے دی. یعنی دوی وائی چه هغه مشران زمونږ نه ښهٔ پوهیدل نو دَ دے دپاره مونږ دَ هغوی تابعداری کوو.

أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ اشاره ده چه دَ دوی دَ مشرانو سره دلیل نهٔ وو بلکه ګمراهان وو نو دَ هغوی تابعداری کول ښکاره باطل کار دے او دا سے آیات په سورة بقره ۱۷۰ مائده ۱۰۴ زخرف ۲۲ ۲۳ کښ هم تیر شوی دی.

الْوُثْقٰى ۗ وَاِلَى اللّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۲۲﴾ وَمَنْ

مضبوطه | او خاص الله تعالیٰ ته آخری انجام د ټولو کارونو دے. | او چا چه

كَفَرَ فَلَا يَحْزُنْكَ كُفْرُهٗ ۗ اِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ

کفر اوکړو نو خفه د نه کړی تا لره | کفر د هغه خاص موږ ته واپسی د دوی ده

فَنُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۗ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ

نو خبر به ورکړو دوی ته په هغه عملونو چه دوی کړی دی یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے

بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۲۳﴾ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا ثُمَّ

په هغه خبرو چه په سینو کښ دی. | مزے ورکوو موږ دوی ته لګه موده | بیا به

نَضْطَرُّهُمْ اِلٰى عَذَابٍ غَلِيْظٍ ﴿۲۴﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ

مجبورًا او لیګو دوی | لره عذاب | سخت ته. | او که چرے تپوس او کړې ته د دوی نه

ف ۲۲:۔ هرکله چه ذکر شو حال د مشرک او د کمزوری دلیل د هغه، نو په دے آیت کښ ذکر کوی حال د مؤحد او د پوخ والی د دلیل د هغه. وَمَنْ يُّسْلِمْ وَجْهَهٗ مراد د دے نه تابعداری په ظاهر سره ده د الله تعالیٰ د ټولو حکمونو. وَهُوَ مُحْسِنٌ مراد د دے نه اخلاص د باطن دے یا مراد د اول نه اسلام او توحید دے او مراد د احسان نه تابعداری د سنت ده الْعُرْوَةِ الْوُثْقٰى دا په طریقه د تشبیه سره دے څه رنګ چه یو انسان د طوفان او سیلاب نه په دے طریقه سره بچ کیږی "چه کړئ وی او مضبوطه وی" او دے هم ورپورے کلک او نخلی نو دا رنګ د الله تعالیٰ د عذاب نه بچ کیدل او د تمام فتنو او ګمراهو نه بچ کیدل په داسے طریقے سره کیږی چه انسان هغه توحید او قرآن چه مضبوط دے په سنت او حدیث سره، په هغے باندے پوره عمل اوکړی او په هغے باندے دلیل اونیسی هم دا رنګ په سورة بقره ب۱۲ ف۲۵۶ کښ تیر شویدی.

ف ۲۳ ۲۴ :۔ روستو د بیان د حال د فریقینو ته تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او تخویف دے منکرینو ته. فَلَا يَحْزُنْكَ مراد دا دے چه په تا باندے د کفر کونکو دنیوی او اخروی تاوان او ذمه واری نیشته نو غم مه کوه یا مراد د حزن نه د نه منلو د وجے نه دومره خفګان کول چه دعوت پریږدی دا منع دے او نفسی حزن خو غیر اختیاری دے د هغے نه نهی نشی کیدلے. (پاسنے په بل مخ)

مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ

چه چا پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه ضرور دوی وائي چه الله تعالیٰ

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ ؕ بَلْ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٢٥﴾

ته اُوایه ستاینه دَ خدائیتوب دَ الله تعالیٰ ده بلکه اکثر دَ دوی نه پوهیږی ۔

لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

خاص دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی هغه څه چه په آسمانونو کښ او زمکه کښ دی یقیناً الله تعالیٰ

هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ اَنَّمَا فِي

خاص هغه بے حاجته ستائیلے شوے دے ۔ او که چرے شی هغه څه چه په

الْاَرْضِ مِنْ شَجَرَةٍ اَقْلَامٌ وَّالْبَحْرُ

زمکه کښ دی اونے قلمونه او دا سمندر

ثُمَّ نُمَتِّعُهُمْ قَلِيْلًا دا دنیوی حال دے چه کافرانو لره په دنیا کښ مالونه، اولاد، مرتبے ملاویږی لیکن دا متاع قلیل دے او قَلِيْلًا نه مراد ټول ژوند او مالونه دَ دُنیا دی ۔

سـ۲۵ :۔ دا یل دلیل عقلی اعترافی دے او سبب دَ عذاب غلیظ دے چه سرهٔ دَ اقرار نه په خالقیت دَ الله تعالیٰ سره بیا هم دوی شرک کوی۔

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ دا تفریع ده په اقرار دَ مشرکانو په خالقیت دَ الله تعالیٰ یعنی هر کله چه خالق دے نو ټول صفتونه دَ الوهیت دَ هغهٔ دَپاره خاص دی۔ یا دا کلمه دَ شکر ده په دے خبره باندے چه منکرینو اقرار اوکړو په خالقیت دَ الله باندے۔

اَكْثَرُهُمْ دَ دے نه هغه خلق مراد دی چه سرهٔ دَ دے اقرار نه شرک او کفر کوی او هغه خلق ډیر دی۔

سـ۲۶ :۔ دا یل دلیل عقلی دے۔ مخکښ آیت کښ ذکر دَ خالقیت دَ الله تعالیٰ دے نو په دے آیت کښ ذکر دَ تصرف او دَ تدابیر دَ هغهٔ دے۔

الْغَنِيُّ په دے کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ په دے تصرفاتو کښ هیڅ شریک یا ولد یا مددګار ته محتاج نه دے۔

يَمُدُّهُ مِنۢ بَعْدِهِ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ

زیات کړی دۀ لره روستو دختم کیدلو نه اووه سمندرونه نو خلاص به نشی

كَلِمَٰتُ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝٢٧

کلمې دَ الله تعالیٰ یقینًا الله تعالیٰ زور اور حکمت والا دے.

مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَٰحِدَةٍ ۗ

نه دے پیدائیش ستاسو او نه دوباره ژوندستاسو مگر پشان دَ یو تن دے

إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ۝٢٨ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ

یقینًا الله تعالیٰ هرڅه اوری هرڅه ویني. آیا ته نه گورے چه یقینًا الله تعالیٰ

۲۷:- دا یل دلیل عقلی دے. هرکله چه مخکښې اوفرمائیل چه ما فی السموات او ما فی الارض دَ الله تعالیٰ دی نو وهم پیدا شو چه دا خو محدود څیزونه دی نو آیا دَ الله تعالیٰ کلمات به هم محدود وی نو په دے آیت کښې دَ دے وهم جواب کوی حاصل دا چه کلمات دَ الله تعالیٰ بے انتها دی دا مضمون سورة کهف ۱۰۹ کښې تیر شویدی لیکن په دے آیت کښې ډیر تاکید دے وجه دا ده چه دلته دَ لقمان حکمت ذکر شو نو اشاره شوه چه حکمتونه دَ حکیمانو دَ الله تعالیٰ دَ کلماتو احاطه نشي کولے. مِن شَجَرَةٍ، مِن دَپاره دَ استغراق دے ډیر عموم پیدا کوی.
وَالْبَحْرُ دنیا کښې مسمیٰ دے په بحر نو هغه صرف یو دے لیکن په مختلفو علاقو کښې تقسیم دے او مختلف رنګونه دی نو دَ دے وجے نه په جدا جدا نومونو سره مشهور دے. سَبْعَةُ، دَ دے نه مراد ډیر والے دے. او مراد دَ کلماتو نه عام دے وحی دَ الله تعالیٰ ملائکوته او انبیاؤته او علمونه دَ هغهٔ او صفتونه دَ هغهٔ (څکه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی لا احصی ثناء علیك انت كما اثنيت على نفسك) او عجائبات او حکمتونه دَ هغهٔ، دے ټولو ته شامل دے.
۲۸:- دا هم دلیل عقلی دے دَ اثبات دَ عظیم قدرت دَ هغهٔ روستو دَ ذکر دَ محیط دَ علم دَ هغهٔ نه یعنی الله تعالیٰ یو دے او ټول په اول پیدائیش او دوباره پیدائیش کښې یو شان دے.

يُوْلِجُ الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ

ورننه باسی شپه په ورځ کښې او ورننه باسی ورځ په شپه کښې

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَّجْرِيْٓ

او په خدمت کښې لګولے دی نمر او سپوږمۍ دا ټول چلیږی

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّاَنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

تر نیټې مقررے پورے او یقینًا الله تعالیٰ ستاسو په عملونو پاندے

خَبِيْرٌ ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ وَاَنَّ

خبر دارے دے - دا بیان دے دَپاره دَ دے چه یقین اوکړئ چه الله تعالیٰ حق دے او یقینًا

مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهِ الْبَاطِلُ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ

هغه کسان چه دوی ئې بلی سوا دَ الله تعالیٰ نه باطل (بندګی دَ هغوی) او یقینًا الله تعالیٰ

هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۳۰﴾ اَلَمْ تَرَ اَنَّ الْفُلْكَ ع ۳ ۱۲

پورته دے لوئے ذات دے - آیا ته نه ګورے چه کشتۍ

تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللّٰهِ لِيُرِيَكُمْ

چلیږی په سمندر کښې په نعمت دَ الله تعالیٰ سره دے دَپاره چه اوخائی تاسو ته

۲۹ :- دا یل دلیل عقلی دے په ذکر دَ تصرف دَ الله تعالیٰ په زمانه کښې او
په اسبابو دَ شپه او ورځ کښې او اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى کښې اشاره ده فنا کیدلو دَ دے نظام ته
او تَعْمَلُوْنَ کښې اشاره ده هغه اعمالو ته چه په دے شپه او ورځ کښې موجودیګی -
فائده :- دَ شپے او ورځے سره يُوْلِجُ فعل مضارع ذکر کړے دے او دَ
شمس و قمر سره - سَخَّرَ فعل ماضی ذکر کړے دے وجه داده چه انقلاب دَ
شپے او ورځے متجدد (نوے نوے) کیږی او دَ نمر سپوږمۍ حالت خو مستمر (همیشه
یوشان) دے تر فنا پورے -
۳۰ :- دا نتیجه ده دَ تیر شوؤ دلیلونو - بِاَنَّ فعل پټ دے ذٰلِكَ لِتَسْتَيْقِنُوْا بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ
یعنی وجود او الوهیت ئې یقینی دے یا په معنٰی دَ باقی دے - الْبَاطِلُ په معنٰی دَ فانی
دے یا دُعا دَ هغوی ته - او عبادت کول دَ هغوی باطل دی - الْعَلِيُّ صریح دے په علوّ
(راوچت والی) دَ الله تعالیٰ کښې -

مِنْ اٰيٰتِهٖ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ

دلیلونه خپل یقیناً په دے کښ دیرد دلیلونه د توحید دی هر ډیر صبرناک

شَكُوْرٍ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا غَشِيَهُمْ مَّوْجٌ كَالظُّلَلِ

ډیر شکرګذار لره . او هر کله چه راګیر کړی دوی لره څپې پشان د ګټو وریځو

دَعَوُا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۚ فَلَمَّا

بلی دوی الله تعالیٰ لره خالص کوی هغه لره بلنه . نو هر کله

نَجّٰىهُمْ اِلَى الْبَرِّ فَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۗ

چه بچ کړی دوی لره اوچے ته تو بعض د دوی نه حق پرست وی ،

وَمَا يَجْحَدُ بِاٰيٰتِنَآ اِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُوْرٍ ﴿۳۲﴾

او انکار نه کوی د ایاتونو زمونږ نه مګر هر بے لوظه ناشکره .

سلا ۳۱ :- دا هم دلیل عقلی ارضی (رد زمکے) دے روستو د دلیل وسطی نه .

بِنِعْمَةِ اللّٰهِ مراد د دے نه تعلیم د الله تعالیٰ دے بندګانو ته طریقه د جوړولو د کشتۍ او د چلولو د هغې او د پیدائش د اجزاؤ د هغې چه لرګی او اوسپنه ده . یا مراد د دے نه معتدله هواده چه بغیر د هغې نه کشتۍ نشی چلید لے . مِنْ اٰيٰتِهٖ دلیلونه د توحید چه په اوبوکښ او په کشتو چلیدلو کښ معلومیږی بے انتها اوبه ، په هغې کښ قسم قسم حیوانات غټ او دراته جهازونه او کشتۍ په سطحه د اوبو باندے ګرځول او نه غرقیدل وغیره . صَبَّارٍ شَكُوْرٍ د سفر په مشکلاتو باندے د صبر کولو نه بغیر دا ایات (دلیلونه) نه معلومیږی او دا رنګ څوک د دے نعمتونو او قدرتونو نسبت الله تعالیٰ له نه منی نو هغه ته هم ایات د توحید نه معلومیږی د دے وجے نه یې دا دواړه صفتونه ذکر کړل او په مبالغے سره یې د دے وجے نه ذکر کړل چه په بعض مشکلاتو کښ صبر کول او بعض نعمتونو د الله تعالیٰ باندے شکر خو د کافرانو او مشرکانو هم عادت دے خو په هر مشکل کښ صبر کول او د هر نعمت د الله تعالیٰ شکر ادا کول دا د مؤمن صفت دے .

سلا ۳۲ :- په دے ایت کښ زجر دے په ناشکرئ کولو د تیرشوی نعمت یعنی د خوف او هیبت د چپو د دریاب د وجے نه الله تعالیٰ ته عاجزی کوی او چغے وهی چه یا الله مدد لیکن حال یې معلومیږی روستو د نجات نه - د دے نه معلومه شوه (ریاتے په یل مخ)

يَآأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ وَاخْشَوْا يَوْمًا

اے خلقو اوویریږئ ذ رب خپل نه او ویره کوئ ذ هغه ورځ نه

لَا يَجْزِي وَالِدٌ عَنْ وَلَدِهِ وَلَا مَوْلُودٌ

چه نه به شی دفع کولے پلار ذ اولاد نه او نه اولاد به

هُوَ جَازٍ عَنْ وَالِدِهِ شَيْئًا إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ

دفع کوونکے دی ذ پلار خپل نه هیڅ څیز یقینًا وعده ذ الله تعالیٰ

حَقٌّ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَوٰةُ الدُّنْيَا

حقه ده نو دهوکه د نه کړي تاسو لره ژوندا دنیوی

وَلَا يَغُرَّنَّكُمْ بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٣٣﴾ إِنَّ اللَّهَ

او دهوکه د نه کړي تاسو لره په الله تعالیٰ باندے دهوکه ورکوونکے. یقینًا الله تعالیٰ

چه جبری ایمان معتبر نه دے. او دا هم معلومه شوه چه عاجزی او تضرع ذ مشرک هم ذ الله تعالیٰ په نیز سبب ذ قبولیت ذ دُعا کانو دے. مُقْتَصِدٌ ذ قصد نه ماخوذ دے او قصد استقامت او اعتدال ته ویلے کیږی او دا سے سورة مائدة ٦٦ او سورة فاطر ٣٢ کښ هم دی نو دلته مقتصد موُحد دے چه نه افراط کوی چه ذ وجود ذ الله تعالیٰ نه انکار اوکړی او نه تفریط کوی چه ذ الله تعالیٰ نه سوا نور هم الٰهه گنړی. خَتَّارٍ، ختر غدر ته ویلے کیږی او دا وی ذ وجے ذ بے صبرئ نه نو دا ئے ذ صبار په مقابله کښ ذکر کړو او کَفُوْرٍ ئے په مقابله ذ شکور کښ ذکر کړلو. یعنی سوا ذ موُحدینو نه دوه قسمه خلق دی یو هغه چه ذ الله او ذ هغهٔ ذ نعمتونو نه مطلقًا منکر وی لکه دهریان نو ختار کښ هغه مراد دی او دویم قسم مشرک چه الله تعالیٰ منی او نعمتونه ئے هم منی لیکن ورسره شریک جوړوی کفور کښ هغهٔ ته اشاره ده. ٣٣. روستو ذ تفصیلی دلیلونو ذ توحید او زجرونو ذ منکرینو نه دعوت عامه ورکوی توحید او تقویٰ ته او تخویف ورکوی ذ عذاب اخروی ته. وَاخْشَوْا، مراد ذ دے نه صرف خوف دے ذ عذاب نه. لَا يَجْزِي وَالِدٌ، هر کله چه په دے سورت کښ ذ والد او ولد معامله ذکر شوه (چه لقمان او ځوئے ئے دے) ذ دے وجے نه ذ والد او ولد تخصیص ئے اوکړلو. او دا پښان ذ سورة بقره ٤٨ ١٢٣ دے خو هغه عام وو هر نفس ته او دا خاص دے په اعلیٰ افرادو چه

عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ ۚ

خاص دَهغه سره دے علم دَ قیامت ، او رادوروی باران

وَيَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ۭ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌ

او عالم دے په تفصیلاتو دَهغه چه په رحمونو (بچه دانی) کښې دی او نه پوهیږی هیڅ څوک

مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۭ وَمَا تَدْرِيْ نَفْسٌۢ بِاَيِّ

چه څه به کوی صبا او نه پوهیږی هیڅ نفس چه په کومه

اَرْضٍ تَمُوْتُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌ خَبِيْرٌ ﴿۳۴﴾

زمکه کښې به مړکیږی یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے او خبردارے دے په پټو خبرو باندے

ع ۴ ۱۳

دَ یو بل مصیبت باندے دیر خفه کیږی. او وَالِدٌ په معنیٰ دَ ذوولد دے تو مور ته هم شامل دے. لَا یَجْزِیْ په معنیٰ دَ قدیه ورکولو دے او په معنیٰ دَ دفع کولو دَ ضرر او تکلیف دے. وَعْدَ اللّٰهِ دَدے نه مراد ورځ دَ قیامت او دَ هغې احوال دی، حساب، میزان وغیره. او لَا یَجْزِیْ وَالِدٌ اه حالت دے. فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا، دا ترهیب فی الدنیا دے. یعنی دَ دنیا ژوند همیشه او نه کنږے او دَ دُنیا دَ مالونو او جاه او مرتبے په وجے سره دَ آخرت نه غافل نشئ او دا خو متاع دَ غرور دے لکه په سورة العمرٰن ۱۸۵ کښې. بِاللّٰهِ، مراد دا دے چه درته اُوائیٔ چه الله تعالیٰ نیشته یا اُوائی چه شفعاء او شرکاء دَ الله تعالیٰ شته هغوی به نجات درکوی یا اُوائی چه الله تعالیٰ غفور رحیم دے گناه کوه هیڅ پرواه مکوه یا اُوائی چه الله تعالیٰ ته ضرور وسیله پکار ده نو په وسیله شرکیه کښې دِ اخته کړی یا اُوائی چه الله تعالیٰ یو دے او یو خو صرف یو کار کولے شی نو دَ دے وجے نور معبودان او خالقان او حاجت روا سِوا دَ الله تعالیٰ هم شته دے.

س۳۴: دا دلیل عقلی علمی دے او په تیر شوی آیت کښې یَوْمًا لَّا یَجْزِیْ اه، سره تعلق لری. عِنْدَهٗ عِلْمُ السَّاعَةِ، لفظ دَ عِنْدَهٗ دلیل دے په تخصیص دَ علم دَ ساعة په الله پورے هرکله چه علم دَ علاماتو دَ هغې الله تعالیٰ انبیاؤ علیهم السّلام ته خودلے دے نو مِن وجه علم غیرو ته حاصل شو دَ دے وجے نه لا تدری ئے دَ دے سره نه دے وئیلے. وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ، دلته ئے فعل (انزال) ذکر کړو چه هرکله دا انزال دَ الله تعالیٰ فعل دے نو معلومه شوه چه هغه پرے ضرور عالم دے یا دا چه دا عطف دے په معنیٰ دَ علم الساعة باندے یعنی عنده علم انزال الغیث او یعلم ما فی الارحام، ئے دواړو کښې اول علامات ښکاره کیږی نو مِن وجه علم بندګانو ته حاصل دے نو دَ دے وجے نه صیغه دَ رپاتے په بل مخ)

تخصیص ئې ذکر نه کړله اګرچه دلته هم تخصیص مراد دے په عطف معنوی سره تقدیر ئې دا دادے چه عنده علم ما فی الارحام - دلته یو اشکال دے چه په رحم د ښځې علم په الټرا ساونډ ذ اکسرے سره حاصلیږی نو څه رنګ تخصیص په الله تعالی پورے صحیح کیدیشی؟ جواب دادے چه ما فی الارحام نه صرف وجود د بچی یا مذکر مؤنث کیدل مراد نه دی بلکه د هغه بچی په باره کښې د پوره حالاتو علم دے "چه دے به کوم وخت پیدا کیږی او دے به صالح عمل کوی او که بد عمل به کوی او د دهٔ به څومره ژوند وی کوم کوم وطن ته به سفر کوی څومره او څه رنګ تکلیفونه به په دهٔ باندے راځی. مالدار به وی او که غریب به وی جنتی به وی او که جهنمی به وی وغیره - دا احوال په هیڅ آلاتو سره هیچا ته معلوم نه دی د دے علم خاص دے په الله تعالی پورے - وَمَا تَدۡرِیۡ په دے دواړو جملو کښې دا لفظ دلالت کوی چه دا دواړه په هیڅ علامت او هیڅ آلے سره هیچا ته نشی معلومیدلے سوا د الله تعالی نه.

فائده ۱ : بحدیث صحیح کښې دے پنځو امورو ته ئې مفاتیح الغیب ویلی دی، اشاره ده چه صرف پنځه خیزونه نه دی بلکه هر یو د دے نه په بے شماره جزئیاتو باندے مشتمل دے تفصیلی حالات د قیامت تفصیلی حالات د باران تفصیلی حالات د بچی تفصیلی حالات د اعمالو د صبا تفصیلی حالات د هغه ځائے چه د مرګ دے. نو دا خزلنے د غیب دی.

فائده ۲ : بعض ناپوهه کسان اعتراض کوی چه د دے پنځو نه علاوه د نورو مغیباتو علمونه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته ورکړے شوے دی ځکه چه د دے پنځو تخصیص ئې په ذکر سره کړے دے او دویم دا چه بعض مفسرینو روایات راوړے دی چه د دے نه علاوه نور علمونه الله تعالی رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته ورکړی. جواب د اول دادے چه تخصیص په ذکر سره نفی د ماسوا نه نهٔ غواړی لکه چه دا قاعده مسلّمه ده او دا ئې د دے وجے نه خاص ذکر کړے دی چه مشرکانو په دغه وخت کښې صرف د دے پنځو خیزونو تپوس کړے وو دارنګ مفسّر الوسی په تفسیر روح المعانی کښې ذکر کړے دی. جواب د دویم دادے چه دغه قسم احادیث چه بعض مفسرینو ذکر کړے دی بے سنده دی او یا په سند صحیح سره نه دی ثابت، او بل دا چه د قرآن کریم د نورو هغه آیاتو خلاف دی کوم چه ښکاره دلیل د نفی د علم غیب د نبی صلّی الله علیه وسلّم نه کوی چه هغه نفی په دے پنځو پورے په هیڅ آیت کښې نه ده خاص کړے شوے.

تمّ تفسیر سورة لقمان بتوفیقه تعالی ربّنا تقبل منّا
أنت السمیع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم.

٥ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ـــ ٥

رکوعاتها ۳ — آیاتها ۳۰	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	سُوۡرَةُ السَّجۡدَةِ ۳۲ مَكِّيَّةٌ ۷۵

الٓمّٓ ﴿۱﴾ تَنۡزِيۡلُ الۡكِتٰبِ لَا رَيۡبَ فِيۡهِ مِنۡ رَّبِّ

الله تعالی پوهیږی دَدے په مراد باندے - نازلیدل دَدے کتاب شک نیشته په دے کښے دَ طرف دَ رب

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورة سجدة

دَدے سورت نور نومونه دادی: سورة الم سجدة ، سورة السجدة ، سورة المضاجع ، سورة سجدة لقمان -

ربط دَدے دَ مخکښ سورت سره دادے ۱ هرکله چه مخکښ سورت کښ رد اوکړے شو په شرک باندے په عقلی او نقلی دلیلونو سره نو په دے سورت کښ فرق بیانوی دَ مشرک او موحد په مینځ کښ په دنیا او آخرت کښ - ۲ په دے سورت کښ دَ سورة لقمان دَ آخری آیت تشریح ده دَ اولے جملے (ان الله عنده علم الساعة) تشریح په ۴ ۱۱ ۱۲ ۱۳ ۱۴ کښ ده - دَ دویمے جملے (وینزل الغیث) تشریح په ۲۷ کښ ده دَ دریمے جملے (ویعلم ما فی الارحام) تشریح په ۸ ۹ کښ ده - دَ څلورمے جملے (وما تدری نفس ماذا تکسب غدا) تشریح په ۵ ۱۳ کښ ده - دَ پنځمے جملے (وما تدری نفس بای ارض تموت) تشریح په ۱۰ ۱۱ کښ ده - ۳ دا رنګ تیر شوے سورت کښ دَ انسان دَ حمل (په خیټه دَ مور) کښ حالت ذکر کړے وو نو په دے سورت کښ ذکر دَ مبدء او حال دَ قبر او حال دَ حشر ټول ذکر کوی -

دعوی دَدے سورت - بیان دَ فرق په مینځ دَ حال دَ مؤمن او دَ حال دَ مشرک کښ - ماخذ دَدے په ۱۸ کښ ذکر دے - دَ ابتداء نه تر ۱۴ پورے ذکر دَ احوالو دَ منکرینو دے او په ۳ کښ قرآن ته نسبت دَ افتراء دَے په ۹ کښ شکر نه کول ، په ۱۰ کښ دَ دوباره ژوند نه انکار کول او په ۱۲ کښ مړګ راوستل په دوی باندے په قیامت کښ او دَدے مجرمانو حال په ۱۳ ۱۴ کښ ذکر دی - احوال دَ مؤمنانو په ۱۵ ۱۶ ۱۷ کښ - بیا ذکر دَ فرق دَ ۱۸ نه تر ۲۲ پورے په طریقه دَ جزا او سزا بیا ذکر دَ حال دَ مؤمنانو مخکښنو په ۲۳ ۲۴ ۲۵ کښ بیا زجر او تخویف منکرینو ته په ۲۶ ۲۷ ۲۸ ۲۹ کښ ذکر کوی آخر آیت تفریع ده په کل سورت باندے -

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲﴾ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ۚ بَلْ هُوَ

دَ مخلوقاتو ته دے. آیا دوی وائی چه دا (قرآن) ئې دَ ځان نه جوړ کړے دے بلکه دا

الْحَقُّ مِنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰىهُمْ

حق دے ستا دَ رب دَ طرف نه دے دَپاره چه ویره ورکړے هغه قوم ته چه نه دے راغلے

مِّنْ نَّذِيْرٍ مِّنْ قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۳﴾

هغوی ته ویره ورکوونکے ستا نه مخکښ دَدے دَپاره چه هدایت او موندی.

اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

خاص الله تعالٰی هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه

فائده:۔ هرکله چه په دے سورت کښ دَ انسان ټول حالات ذکر دی او بیا ذکر دَ فرق دے او دا فرق به معلومیږی په قبر کښ او بیا په قیامت کښ راو هغه ئې مسمّٰی کړے ده په یوم الفصل او یوم الفتح سره) دَدے وجے نه دَ جُمعے دَ ورځے دَ فجر په مونځ کښ په اول رکعت کښ دا سورت لوستل سنّت دی او دا رنګ هره شپه په بستره باندے دَ دے ویل استحباب لری او په دے دواړو باندے صحیح احادیث وارد دی۔

خلاصه دَ سورت دا ده۔ په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر ۱۸ پورے دے. اول ترغیب الی القرآن ۲ کښ بیا زجر منکرینو ته په ۳ کښ بیا درے عقلی دلیلونه په ۴، ۵، ۶ کښ بیا زجر په انکار دَ آخرت باندے بیا تخویف اخروی درے آیاتونو کښ او بشارت په درے آیاتونو کښ.

تفسیر

۱:۔ دا تنبیه ده په اعجاز دَ قرآن باندے.

۲:۔ دا صداقت دَ قرآن دے دَپاره دَ ترغیب. لَا رَيْبَ فِيْهِ دا جمله معترضه ده په مینځ دَ مبتدا او خبر کښ یا دا خبر اول دے او مِنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ خبر دویم دے او په دے کښ اشاره ده چه مرتابین اګرچه ډیر دی لیکن دَ هغوی په ارتیاب سره په قرآن کښ هیڅ ریب نه دے پیدا شوے.

۳:۔ دا زجر دے منکرینو دَ قرآن ته. بَلْ هُوَ الْحَقُّ دا اضراب دے دَ دے دَ قول نه. افْتَرٰىهُ او دا اضراب ابطالی دے او دَ دے وجے نه ویلے شوے دی چه قرآن کښ بَلْ هر مقام کښ دَپاره دَ اضراب انتقالی دے بیوا دَ دے مقام نه چه دا ابطالی دے. مِنْ رَّبِّكَ دلته انزل پټ دے او لتنذرهم په هغې پورے تعلق لری.

وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ

او هغه چه مینځ ددے کښ دی په اندازه د شپږو ورځو کښ بیا برابر شویدے د عرش د پاسه

مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ أَفَلَا

نیشته تاسو لره سوا د الله تعالیٰ نه هیڅ کوڅ نگے او نه سفارشی آیا پس ولے

تَتَذَكَّرُونَ ۝٤ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى

نصیحت نه قبلوئے . انتظام کوی الله تعالیٰ د کار د آسمان نه (رالیږی)

الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ

زمکے ته بیا ورخیژی هغه ته په یو ورځ کښ چه

مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ۝٥

اندازه د هغې زر کاله ده د هغې نه چه تاسو ئے شماره کوئے .

مَا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ اشاره ده چه ددوی انذار ډیر سخت دے د وجے د جهل د دوی نه او دا رنگ اشاره ده چه دا قوم ډیر نبی ته ډیر محتاج دے په هدایت کښ .

سک :- دا تفصیل د انذار دے په ذکر د توحید سره د دلیل عقلی نه . مَا لَكُم مِّن دُونِهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا شَفِيعٍ ، امداد کوؤنکے دوه قسمه وی یو هغه چه پخپله تصرف کولے شی حاجت پوره کولے شی مصیبت لرے کولے شی او هغهٔ ته ولی ویلے کیږی . دویم هغه چه پخپله کار نشی کولے لیکن مالک او اختیار من ته په کلکه وینا کولے شی چه ددے شخص حاجت پوره کړه نو دهٔ ته شفیع ویلے کیږی نو د توحید د اثبات د پاره ددے دواړو نفی او کړے شوه .

سه :- دا بل دلیل عقلی دے . یعنی هر کله چه ثابته شوه چه الله تعالیٰ خالق دے د عرش د پاسه مستوی دے او پوره اختیار من دے نو اوس ذکر کوی چه ددے عالم نظام چلوؤنکے هم هغهٔ دے . دا نظام ئے چا ته نه دے سپارلے نو معلومه شوه چه قطبان غوثان نیشته چه هغوی د دنیا تدابیر کولے شی . په دے آیت کښ دوه تفسیرونه دی اوّل دا دے چه الْأَمْرَ نه مراد هر کار د کارونو ددے عالم نه او مِنَ السَّمَاءِ د پاره متعلق پټ دے قینزله من السماء یعنی را کوځوی هغه کار د آسمان نه زمکے ته اشاره ده چه دے آیت کښ هغهٔ امور او کارونه مراد دی چه په عالم اسفل کښ انسانانو ته ښکاره کیږی او په دے راپاتے په بل مخ)

ذٰلِكَ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿٦﴾

دغه ذات دے عالم په هر پټ او ښکاره زورآور او رحم کوونکے دے

الَّذِيْٓ اَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ وَبَدَاَ خَلْقَ

هغه ذات چه ښائسته ئے جوړ کړے دے هر څیز چه پیدا کړے دے او شروع کړے دے پیدائش

الْاِنْسَانِ مِنْ طِيْنٍ ﴿٧﴾ ثُمَّ جَعَلَ نَسْلَهٗ

دَ انسان دَ خټو نه. بیا ئے جوړ کړے نسل دَ هغه له

زمکه کښ چلیږی. او يَعْرُجُ په معنیٰ دَ يرجع دے او ضمیر دَ ئه امر ته راجع دے او رجوع روستو دَ فناء دَ عالم ته مراد ده. فِيْ يَوْمٍ متعلق دے په يعرج پورے او مراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده. دویم تفسیر دا دے چه الْاَمر نه مراد دَ وحی ده چه په واسطه دَ جبریل سره رالیږلی کیږی دَ مِنَ السَّمَآءِ سره فینزل پټ دے او يَعْرُجُ ضمیر جبریل ته راجع دے او فِيْ يَوْمٍ نه مراد ورځ ده دَ دُنیا دَ ورځو نه او هرکله چه حدایث سره ثابت ده چه په مینځ دَ آسمان او زمکه کښ پنځه سوه کلونه مسافت دے نو تله او راتله دواړه طرفه زر کلونه شول. او فِيْ يَوْمٍ متعلق دے په دواړو فعلونو پورے (فینزل او یعرج) او مقصود په دے آیت کښ تدبیر دَ وحی شو او اشاره ده صداقت دَ قرآن ته۔

فائده :- په اول تفسیر باندے سوال دا دے چه سورة معارج سلاکښ معلومیږی چه مقدار دَ دغه ورځے پنځوس زره کلونه دے اول جواب دا دے چه دَ قیامت مواقف او هیبتونه بے حده دی نو دَ ټولو موقفونو دَ هیبتونو په لحاظ سره پنځوس زره کلونه دی او دَ یو یو موقف دَ هیبت په بنا باندے زر کلونه دی. دَ دویم تفسیر په بنا هم دا سوال دے چه دَ آیت دَ سورة معارج نه معلومیږی چه دا ورځ دَ ختلو پنځوس زره کلونه ده. جواب دا دے چه تر سدرة المنتهیٰ پورے حساب شی نو پنځوس زره کلونه ده او چه تر اول آسمانه پورے حساب شی نو زر کاله دی۔

سلا :- دا هم دلیل عقلی دے او تائید دَ ماقبل دے یعنی الله تعالیٰ تدبیر دَ دے وجے نه کولے شی چه هغهٔ دَ دے عالم تفصیلی علم لری بغیر دَ ذے علم نه تدبیر نشی کیدلے۔

سک :- دا یل دلیل عقلی دے مخکښ دلیل افاقی وو او دا دلیل انفسی دے. اَحْسَنَ یعنی مضبوط کړے دے هر شے چه پیدا کړے دے. مراد دا چه هر مخلوق ئے په مناسب شکل و صورت او اندامونو سره پیدا کړے دے. وَبَدَاَ خَلْقَ الْاِنْسَانِ.

مِنْ سُلٰلَةٍ مِّنْ مَّآءٍ مَّهِيْنٍ ﴿۸﴾ ثُمَّ سَوّٰىهُ

دَ راښکلې شوې اوبو سپکو نه . بيا ئې برابر کړو هغه

وَنَفَخَ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِهٖ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ

او اوبو کړې ئې په هغه کښې دَ روح خپل نه او جوړ کړيدی تاسو لره غوږونه

وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۹﴾

او سترګې او زړونه ډير لږه شکر په کوئ تاسو .

هرکله چه عام خلق ئې ذکر کړو نو دَ دې جملې نه دَ انسان دَ پيدا ئښت ترتيب ذکر کوی .

فائده :- دا صريح دے چه اول انسان ئې دَ خټې نه پيدا کړے دے او دَ سورة حجر او ص نه معلومه ده چه آدم عليه السّلام ئې دَ خټې نه پيدا کړے وو نو منطقی نتيجه را اُوتله چه اول انسان آدم عليه السّلام وو . نو دا نظريه بلکل غلطه ده چه څوک وائی چه آدم اول انسان نه دے بلکه فقط اول پيغمبر دے دا رنګ څوک چه دَ ارتقاء قائيل دی نو دا ټول دَ قرآن کريم نه منکر دی .

۸ :- دَ نَسْلَهٗ نه معلومه شوه چه مخکښ آيت کښ آدم عليه السّلام مراد دے . سُلٰلَةٍ په زور راويستلے شوے ته ويلے کيږی اشاره ده چه کومه نطفه چه دَ شهوت په زور سره دَ ملا او دَ سينې نه راويستلے شی نو دَ هغې نه ولد پيدا کيږی دَ هسې نطفې نه انسان نه پيدا کيږی .

۹ :- په دے کښ تتمه دَ خلق دَ انسان ده . سَوّٰىهُ دَ دے نه مراد هغه انقلابات دی تر پوره کولو دَ اعضاؤ پورے کوم چه سورة مؤمنون ۱۳ ۱۴ کښ ذکر شوے دی .

رُوْحِهٖ دَ دے اضافت الله تعالیٰ ته په دے وجه کړے شوے دے چه دَ روح دَ پيدا ئښت دَ پاره هيڅ ظاهری ماده نيشته قل الروح من امر ربی او دغسے ناقة الله هم ده . او سمع ، بصر ، زړه ، ئې خاص ذکر کړل ځکه چه دا قوتونه هم پټ دی پشان دَ روح اګرچه اعضاء دَ دے ښکاره دی ، او بله وجه دَ تخصيص دا ده چه دا دَ پوهې او دَ علم اسباب دی . او هر کله چه پوهه دَ غوږونو صرف آوازونه دی چه هغه يوه نوعه ده او پوهه دَ سترګو او دَ زړونو ډيرانواع دی دَ دے وجې نه سمع ئې مفرد ذکر کړو او ابصار او افئدة ئې جمع ذکر کړو . او دا انعام ئې په سورة نحل ۷۸ ملک ۲۳ مؤمنون ۷۸ کښ هم ذکر کړے دے (ياتے په بل مخ)

وَقَالُوٓا ءَاِذَا ضَلَلۡنَا فِى الۡاَرۡضِ ءَاِنَّا لَفِىۡ

او دوی وائی آیا کله چه موږ ورک شو په خاوره کښې آیا شو به موږ په

خَلۡقٍ جَدِيۡدٍ ؕ بَلۡ هُمۡ بِلِقَآئِ رَبِّهِمۡ كٰفِرُوۡنَ ﴿۱۰﴾

پیدا ئښت نوی کښې بلکه دوی د ملاقات د رب خپل نه انکار کوی.

قُلۡ يَتَوَفّٰكُمۡ مَّلَكُ الۡمَوۡتِ الَّذِىۡ

ته اُووایه ساه به اخلی ستاسو نه ملک د مرګ هغه چه

وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۱۱﴾ ع

مقرر کړے شوے دے په تاسو باندے بیا به ستاسو رب ته تاسو پیش کیدلے شئ.

ع ۱ ۱۱ ۱۴

قَلِيۡلًا یعنی لږ کسان شکرګذار دی او مَا دَ پاره دَ تاکید دَ قلت دے یا مراد دا چه لږ شکریه کوئ یعنی په وخت دَ ډیرے سختے صرف الله تعالیٰ یادوئ. یا مراد دَ قِلّت نه عدم دے.
سا :- دا زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت سره. او هرکله چه مخکښې صداقت دَ رسول او بیا بیان دَ توحید په دلیلونو سره اوشو نو اوس څلورم مقصد ذکر کوی (یعنی اثبات دَ آخرت) او هرکله چه تیر شوے دلیلونه دَ اثبات دَ قیامت دَ پاره هم کافی وُو. دَ دے وجے نه دَ دے دَ پاره ئے نور دلیلونه ذکر نه کړل. بَلۡ هُمۡ دا بَلۡ دَ پاره دَ ترقیٔ دے یعنی صرف تعجب او انکار دَ بعث نه نهٔ کوی بلکه دَ قیامت دَ ټولو حالاتو نه انکار کوی او خاص طور باندے رب ته دَ پیش کیدلو نه منکر دی.
سا :- دا جواب دَ انکار دَ دوی دے چه مخکښې آیت کښې ذکر شو. حاصل دا چه ستاسو روح دَ الله تعالیٰ په اختیار کښې دے چه دَ هغې په قبض کولو باندے ملک الموت مقرر کړے دے نو دَ داسے قادر ذات دَ شان نه لرے نه ده چه تاسو دوباره پیدا کړی.
فائده :- اشکال دا دے چه دلته ملک الموت ئے مفرد ذکر کړے دے او په سورة انعام ۶۱ سورة نساء ۹۷ کښې جمع ذکر شوید ے کد ے څه تطبیق دے؟
اول جواب دا دے چه ملک الموت یو دے چه دَ هغهٔ نوم عزرائیل مشهور دے (اګر چه په هیڅ نص صحیح مرفوع کښې دا نوم زما په علم کښې نیشته) خو دَ هغهٔ سره نور ملګری تابعدار ملائک دی نو دَ بعضِ دَ روح قبض کولو دَ پاره پخپله راځی او بعضِ دَ پاره نور ملائک اولیږی. دویم جواب دا دے چه دلته مراد واحد جنسی دے یعنی جنس ملک الموت، او هغهٔ جمع سره هیڅ منافات نه لری. او کوم روایتونه چه

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الْمُجْرِمُونَ نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ

او که چرے اوینې ته هغه وخت چه مجرمانو په ښکته کړے وی سرونه خپل

عِندَ رَبِّهِمْ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا فَارْجِعْنَا

په نیز د رب د دوی (وائي به) اے ربه زمونږه اولیدل مونږ او واوریدل مونږ نو واپس اوګرځوے مونږ

نَعْمَلْ صَالِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ⑫ وَلَوْ شِئْنَا

چه عمل اوکړو نیک عمل یقیناً مونږ یقین کوونکی یو ۔ او که غوختلے وے مونږ

لَآتَيْنَا كُلَّ نَفْسٍ هُدَاهَا وَلَٰكِنْ

ضرور ورکړے به وے مونږ هر تن ته هدایت دَ هغه او لیکن پوره شوے ده

حَقَّ الْقَوْلُ مِنِّي لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ

فیصله دَ عذاب زما دَ طرف نه چه ضرور به ډک ووم جهنم لره دَ پیریانو

دَ عزرائیلؑ دَ تصرف عامه او علم عامه دَ پاره مفسرینو ذکر کړے دی په هغې کښ هیڅ روایت مرفوع صحیح نیشته (والله اعلم)۔

۱۲: دا تخویف اخروی دے منکرینو لره او ذکر دَ احوالو دَ دوی دے روستو دَ (الیه ترجعون) رجوع الی الله ته۔ الْمُجْرِمُونَ نه مراد هغه دی چه دَ قرآن او رسول او توحید او قیامت نه (چه تیر شوی آیاتونو کښ ذکر شول) انکار کوی۔

نَاكِسُوا رُءُوسِهِمْ دا علامت دَ ملامتیا او دَ شرمندګئ او دَ ذلت دے۔ رَبَّنَآ أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا، مراد دَ دے نه علم دَ هغه خبرو دے چه دوی په دنیا کښ دَ هغې انکار کړے وُو۔ اکثر دوی انکار کوۇ دَ هغه څه نه چه دوی په سترګو باندے نه لیدلو (چه هغه په یؤمنون بالغیب کښ مراد دی) او دا رنګ دوی وی دَ الله تعالی او قرآن وحدیث ته نه په دنیا کښ غوږ ایخودلو اوس هغه دواړه حالتو ته ورته حاصل شول مجبوراً۔

مُوقِنُونَ یقین حاصلیدل روستو دَ استعمال دَ اسبابو دَ علم ته دَ دے وجه نه ئے دَ بصر او سمع نه روستو یقین حاصلول ذکر کړل۔ او طلب دَ واپسے دُنیا ته په سورة انعام ۲۷ اعراف ۵۳ سورة یؤمنون ۹۹ کښ هم ذکر شوے وۇ سرۀ دَ جواب نه۔

وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ﴿١٣﴾ فَذُوقُوا بِمَا نَسِيتُمْ

او انسانانو نه په یو ځائے. (راوبه ویلے شی) نو اوڅکئ په سبب د هیرولو ستاسو

لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا إِنَّا نَسِينَاكُمْ وَذُوقُوا

ملاقات ستاسو د دے ورځے یقیناً مونږ یه تاسو هیر کړو او اوڅکئ

عَذَابَ الْخُلْدِ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾ إِنَّمَا

عذاب د همیش والی په سبب د هغه عملونو چه تاسو کول. یقیناً

يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا

ایمان لری په آیاتونو زمونږ هغه کسان چه کله بیان شی دوی ته آیاتونه پریوځی

سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ

سجده کوونکی او تسبیح وائی سره د حمد د رب خپل نه او دوی

لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿١٥﴾ السجدة تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ السجدة ۹

لوئی نه کوی. لرے کیږی اړخونه د دوی د بسترونه

سـ۱۳۔ دا هم تخویف کښ داخل دے او دا متعلق دے په أَبْصَرْنَا وَسَمِعْنَا پورے یعنی په دنیا کښ دوی هدایت د دے وجے نه حاصل کړے نه وؤ چه هغهٔ د الله تعالی په اختیار کښ دے او دا مذهب د اهل سنت دے چه الله تعالی د کافر د ایمان وهدایت اراده نه ده کړے او هیڅ کار د الله تعالی د ارادے نه بغیر نشی کیدلے. وَلَٰكِنْ دا دفع د وهم د پاره ده یعنی څه سبب دے چه الله تعالی د دوی د هدایت اراده نه ده کړے؟ جواب دا دے چه فیصله ده د عذاب په وعده د ډکولو د جهنم سره د دے مجرمانو نه. او الله تعالی د خپلے وعدے خلاف نه کوی لکه سورة ص سهٔ کښ ذکر کړے ده۔

سـ۱۴۔ دا هم تخویف کښ داخل دے. سبب د عذاب ئے نسیان د قیامت ذکر کړیدے ځکه چه انکار د قیامت سبب دے د نورو کفریاتو د پاره۔ إِنَّا نَسِينَاكُمْ مراد په دنیا کښ دے یعنی محروم کول د دوی د هدایت نه یا مراد په آخرت کښ یعنی په عذاب کښ پریښودل پشان د نَسْيًا مَنسِيًّا۔ په دواړو لفظونو (نسیتم نسیناکم) کښ معنیٰ د پریښودلو قصداً مراد ده۔ او ذُوقُوا ئے دوه کرته ذکر کړو اشاره ده ډیرو قسمونو د عذابونه۔

سـ۱۵۔ دا ذکر د حال د مؤمنانو دے روستو د ذکر کولو د حال د متکبرینو نه د پاره د فرق او دا بشارت دے. په دے آیت کښ د دوی درے احوال ذکر کړیدی اول عمل د

يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَّطَمَعًا ز وَّمِمَّا

بلی خپل رب لره یره کوونکی او طمع لرونکی او د هغه نه

رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ⑯ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ

چه مونږ ورکړیدی خرچ کوی۔ پس نه پوهیږی هیڅ نفس په حقیقت د هغه چه

اُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ اَعْيُنٍ ج جَزَآءًۢ بِمَا

پټ ساتلے شویدے دوی د پاره یخ والے د سترګو بدله ده د هغه

اندامونو چه سجدة د۔ دویم عمل د زبے چه تسبیح اوحمد دے دریم عمل د زړه دے چه تکبر نه کول دی او دا علامات دی د مؤمن بالقران. اِذَا ذُكِّرُوْا بِهَا خَرُّوْا سُجَّدًا ، داخاص حالت دے یعنی هرکله چه ایاتونه د سجدے اولوستلے شی نو سجده کوی، او ډیره عاجزی اوتضرع نه تعبیریئے اوکړو په خَرُّوْا سره او دا اموحالونه هم اشاره ده اوبیا د سجدے نه مراد انقیاد او تابعداری کول د قران دی۔

سلا :۔ هٔکښ ایت کښ د درے حال یئے ذکر کړو په دے ایت کښ د هغوی د شپے حال ذکر کوی، اودا هم درے دی اول خپلو بسترو نه ډډه لرے ساتل مَضَاجِع کښ اشاره ده چه ټوله شپه عبادت نه کوی ځکه بسترے د ارام کولو د پاره شته دے لیکن ټوله شپه په هغے باندے ارام هم نه کوی۔ اوهرکله چه په اوده کیدلو کښ سنّت طریقه داده چه په ښی اړخ باندے څملئ د دے وجے نه جنوب یئے ذکر کړے دے او دویم حال يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ دے دا یئے په طریقه د جمله حالیه ذکر کړے دے اشاره ده چه د بسترے لرے کیدل د تور فساقو فجارو پشان نه دی بلکه د عبادت د پاره دی۔ دعا مغز د عبادت دے او اصل عبادت دے رلکه چه حدیث کښ ثابت دی) د دے وجے نه دُعا یئے ذکر کړه او ټول عبادات بدنیه په کښ داخل دی۔ خوف یئے ځکه مخکښ کړو چه اسباب د ویرے یعنی ګناهونه اوکوتاهی ډیرے دی او طَمَعًا یئے ذکر کړو رجا یئے نه ده ذکر کړے اشاره ده چه په عملونو هیڅ اعتبار نه کوی صرف د الله تعالیٰ د رحم امید لری او فرق د طمع او د رجا دا دے چه اسباب یئے تیار کړے نو دے ته رجاء ویلے کیږی او چه اسباب یئے نه وی تیار کړے یا اسباب یئے تیار کړے وی خو په هغے باندے نظر نه ساتی نو دے ته طمع ویلے کیږی. او دریم حال وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ یعنی سره د عباداتِ بدنیو نه عباداتِ مالیه هم کوی او خپل مالونه د الله تعالیٰ په دین او د هغے په دعوت و تبلیغ باندے قربان کوی۔

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۷﴾ اَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ

عملونو چه دوی کول . ایا هغه څوک چه مؤمن وی پشان دَ

كَانَ فَاسِقًا ؕ لَا يَسْتَوٗنَ ﴿۱۸﴾ اَمَّا الَّذِيْنَ

هغه چا دے چه نافرمان وی برابر نشی کیدے هر چه هغه کسان دی

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فَلَهُمْ جَنّٰتُ الْمَاْوٰى ؗ

ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی دَ سنّت سره برابر نو دوی لره باغونه دَ اوسیدلو دی

وقف غفران

سے۱ :- دا بشارت اخرویه دے بناء دے په تیر شوی اسبابو باندے. فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ په دے کښ ډیر تاکید او مبالغه ده دَ عظمت دَ نعمتونو دَ جنت، او حدیث کښ وارد دی چه (مَا لَا عَيْنٌ رَاَتْ وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ) " نهٔ دَ چا سترګو لیدلے دی او نهٔ دَ چا غوږونو اوریدلے دی او نهٔ دَ چا په زړه باندے تیر شویدی " ځکه چه ادراک دَ دے اندامونو (حواسو) متناهی دے او نعمتونه دَ جنّت بے انتها دی .

فائده :- که اویلے شی چه الله تعالیٰ په قران کښ دَ هغے نه دَ بعضو نعمتونو ذکر په ډیرو ایاتونو (دَ بشارتِ اخرویه) کښ کړے دے نو علم دَ هغے خو حاصل شویدے نو څه رنګ ئے اوفرمائیل چه فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ جواب دا دے چه قران کریم کښ صرف دَ هغے تعبیرات دَ پوهے دَ خلقو دَ پاره ذکر کړیدی او هر کله چه حقیقت دَ هغے دَ دُنیا دَ نعمتونو نه جدا دے نو دَ دے وجے نه حقیقت ئے هیڅ نفس ته معلوم نه دے. قُرَّةِ اَعْيُنٍ دَ سترګو یخوالے په عرف کښ کنایه ده دَ پوره خوشحالے نه لکه چه سورة فرقان سے۷۴ کښ دا لفظ تیر شویدے.

سے۱۸ :- دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخره پورے په دے کښ ذکر دَ تقابل دَ اهل ایمان او اهلِ کفر دے په درے ایاتونو کښ بیا منکرینو ته تخویف دنیوی او زجر دے په دوه ایاتونو کښ بیا ذکر دَ حال دَ موسیٰ او دَ هغهٔ دَ تابعدارانو دے په طریقه دَ دلیل نقلی سره په درے ایاتونو کښ، بیا تخویف او زجر دے په درے ایاتونو کښ، او تسلّی ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته په اخری ایت کښ.

په دے (سے۱۸) کښ دعویٰ دَ سورت ذکر ده . فَاسِقًا دَ دے نه مراد فاسق دے په عقیده کښ یعنی کافر او مشرک . لَا يَسْتَوٗنَ صیغه دَ جمع ئے دَ دے وجے نه ذکر کړے ده چه دَ مؤمن او فاسق نه هر فرد دَ دوی مراد دے نو هغه جمع ده . دَ قتاده نه روایت دے چه دوی نه دی برابر په دنیا کښ او نه په وخت دَ مرګ او نه په اخرت کښ.

نُزُلًا بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ⑲ وَأَمَّا الَّذِينَ

تیاره میلمستیا ده په وجه د هغه عملونو سره چه دوی کول. او هرچه هغه کسانه دی

فَسَقُوا فَمَأْوٰىهُمُ النَّارُ كُلَّمَا أَرَادُوا

چه نافرمانی ئې کړې ده نو ځائے د ورتللو د دوی اور دے هر وخت چه او غواړی

أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا أُعِيدُوا فِيهَا وَقِيلَ

چه اوځی د هغې نه واپس به اوګرځولے شی په هغې کښ او اوبه وئیلے شی

لَهُمْ ذُوقُوا عَذَابَ النَّارِ الَّذِي كُنْتُمْ

دوی ته او څکئ د اور هغه چه تاسو

بِهِ تُكَذِّبُونَ ⑳ وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ

د هغې تکذیب کوۓ . او ضرور او به څکوو مونږ دوی ته د عذاب

الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ

نزدے نه مخکښ د لوے نه د پاره د دے

سوال :- دا تفصیل د عدم مساوات دے . نو په دے ایت کښ ذکر د حال د مؤمنانو دے او بشارت دے دوی ته .

اَلْمَاْوٰی مراد د دے نه ځائے د همیشه دیره کیدلو دے نو دا مقابل د دُنیا شو چه هغه ځائے د ارتحال دے .

نُزُلًا یعنی د دوی د پاره نعمتونه به هروخت د میلمنو پشان وی دا سے نه ده (د دُنیا پشان) چه صرف درے ورځې به میلمه وی بیا به د کوریه په شان شی .

سـ ۲ :- دا ذکر د حال د دویم فریق دے او د هغوی د پاره تخویف دے .

كُلَّمَا أَرَادُوا أَنْ يَخْرُجُوا مِنْهَا په دے جمله کښ اشاره ده همیشه پاتے کیدلو ته په جهنم کښ او د دوی اهانت او بے عزتئ ته اشاره ده نو دا د نُزُلًا په مقابله کښ دے .

يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِاٰيٰتِ

چه اوګرځي (د ګناهونو نه). او څوک زيات ظالم دے د هغه چا نه چه بيان کړے شي هغه ته ايا تونه

رَبِّهٖ ثُمَّ اَعْرَضَ عَنْهَا ۭ اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ

د رب د هغه بيا مخ واړوی د هغې نه يقيناً موږ د مجرمانو نه

مُنْتَقِمُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

بدله اخستونکي يو. او يقيناً ورکړے وو موږ موسیٰ عليه السّلام ته کتاب

ع ۲ / ۱۵

فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَاۗىِٕهٖ وَجَعَلْنٰهُ

نو مه کيږه په شک کښ د ملاويدلو د هغه نه او جوړ کړے وو موږ دا کتاب

هُدًى لِّبَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ ﴿۲۳﴾ ج وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ

هدايت د پاره د بنی اسرائيلو. او جوړ کړے وو موږ د دوی نه

س۲۱:۔ دا هم بيان د حال د دويم فريق دے او تخويف دنيوی دے. او الْعَذَابِ الْاَدْنٰى نه مراد عذاب د دنيا دے ځکه چه ادنیٰ په معنیٰ د نزدے يا په معنیٰ د کم درجے والا دے. دُوْنَ الْعَذَابِ الْاَكْبَرِ د دے نه مراد عذاب د اٰخرت دے يا مراد د دے نه عذاب د قبر دے.

فائده:۔ د ادنیٰ په مقابله کښ اقصیٰ راځی نو دلته ئے اکبر ولے ذکر کړو؟ د دے وجه دا ده چه د دُنيا په عذاب کښ دوه صفتونه دی يو نزديکت او دويم کموالے. او د اٰخرت په عذاب کښ هم دوه صفتونه دی يو لرے والے دويم غټ والے نو د دُنيا په عذاب کښ تخويف د پاره مؤثر صفت نزدے والے دے او د اٰخرت په عذاب کښ د تخويف د پاره مؤثر صفت غټ والے دے.

س۲۲:۔ دا هم بيان د حال د دويم فريق دے په طريقه د زجر سره او بيان د سبب د ماقبل عذاب دے. مُنْتَقِمُوْنَ عذاب د دُنيا او اٰخرت دواړو ته اشاره ده.

س۲۳:۔ دا ذکر د مؤمنانو سابقينو دے او تعلق لری د سورت د ايت س۲ س۳ سره يعنی تائيد دے د صداقت د قران او د رسول. فَلَا تَكُنْ فِيْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَاۗىِٕهٖ. په معنیٰ د لِقَاۗءِ او په ضمير د هغې کښ او په اضافت کښ ډير اقوال دی ع۱ لقاء په معنیٰ د ملاقات ع۲ تلقی يعنی قبلول ع۳ اخستل. ع۱ او اضافت مفعول ته دے. ع۲ يا اضافت فاعل ته دے او ضمير راجع دے موسیٰ عليه السّلام ته يا راجع دے کتاب ته يا رب ته.

أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ۖ وَكَانُوا

امامان چه بیان یې کوؤ په حکم زموږ سره هرکله چه دوی صبر کړے وؤ او وو دوی

بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ

چه په ایاتونو زموږ یې یقین کوؤ. یقینًا ستا رب په فیصله اوکړی.

بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيمَا كَانُوا فِيهِ

د دوی په مینځ کښ په ورځ د قیامت په هغه خیز کښ چه دوی پکښ

يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا

مختلف وو آیا او نه ده ښکاره شوے دوی ته چه څومره هلاک کړیدی موږ

مِنْ قَبْلِهِمْ مِنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ

مخکښ د دوی نه د پیړونه چه گرځی دوی

تفصیل دَ معانی دا دے ۱ پس مه کیږه په شک کښ دَ قبولو دَ موسٰی علیه السلام نه دغه کتاب لره ۲ پس مه کیږه ته په شک کښ دَ اغستلو ستا نه مثل دَ دغه کتاب لره ۳ پس مه کیږه په شک کښ دَ مخامخ کیدلو ستا نه پشان دَ موسٰی علیه السّلام دَ مصیبتونو سره. ۴ پس مه کیږه ته په شک کښ دَ ملاقات کولو ستا نه موسٰی علیه السّلام سره په شپه دَ معراج کښ. یعنی هغه لیدل بالکل حق دی او دغه ملاقات دَ ارواحو دَ هغوی سره وؤ چه په شکل دَ بدنونو دَ هغوی سره جوړ کړے شوے وو ماسوا دَ عیسٰی علیه السّلام نه او دا تفصیل سورة بنی اسرائیل کښ تیر شوے دے. ۵ پس مه کیږه په شک کښ دَ ملاقات ستا دَ خپل رب سره.

ف۲۴:۔ په دے کښ امت دَ موسٰی علیه السّلام ذکر کوی چه په هغوی کښ دعوت او تبلیغ جاری وؤ نو اشاره ده امت دَ آخری نبی صلّی الله علیه وسلّم ته چه دَ دهٔ په امت کښ به هم دعوت جاری وی او په دے ایت کښ أَئِمَّةً عام دے انبیاؤ دَ بنی اسرائیلو ته او علماؤ دَ هغوی ته لکه سورة انبیاء ۷۳ کښ. او په دے ایت کښ دلیل دے چه په صبر او یقین سره امامت دَ دین حاصلیږی (لکه چه ابن کثیر ویلے دی) په صبر سره دفع دَ شهواتو راځی او په یقین سره زوال دَ شبهاتو حاصلیږی.

ف۲۵:۔ ایت کښ ذکر دی چه په امت دَ موسٰی علیه السّلام کښ رپاتے په یل ځ)

فِيْ مَسٰكِنِهِمْ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ ؕ اَفَلَا

په کورونو دَ هغوی کښی یقیناً په دے کښی ډیر دلیلونه دی ایا نو دوی نه

يَسْمَعُوْنَ ۝٢٦ اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّا نَسُوْقُ الْمَآءَ

اوری . ایا دوی نه گوری چه موږ چلوو اوبه (باران)

اِلَى الْاَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا تَاْكُلُ

زمکے شاړے ته نو راوباسو په هغے سره فصل چه خوری

مِنْهُ اَنْعَامُهُمْ وَاَنْفُسُهُمْ ؕ اَفَلَا يُبْصِرُوْنَ ۝٢٧

دَ هغے نه څاروی دَ دوی او ځانونه دَ دوی ایا نو دوی نه وینی .

وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْفَتْحُ اِنْ كُنْتُمْ

او دوی وائی چه کله به وی دا فیصله که تا سو

اختلاف پیدا شویوؤ نو اشاره ده چه په دے اُمت کښی به هم اختلافات پیدا کیږی لکه په حدیث دَ (ستفترق امتی علی ثلث سبعین فرقة) کښی دا ذکر شویدی.

س۲۶ . دا زجر دے دویم فریق ته چه منکرین دی چه دوی دَ تیر شوؤ منکرینو دَ عذابونو دَ دُنیا نه هیڅ عبرت نه اخلی. یَهْدِ دا په معنیٰ دَ هدایت عقلیه سره دے یعنی ایا نه ده ښکاره شوے دَ دوی عقلونو ته . اَفَلَا یَسْمَعُوْنَ هرکله چه واقعات دَ تیر شوے قومونو دَ اوریدلو سره تعلق لری دَ دے وجے نه زجر ئے په نه اوریدلو سره ذکر کړو.

س۲۷ . دا بل زجر دے چه دا منکرین دَ عقلی دلیلونو نه هم عبرت نه اخلی.
نَسُوْقُ الْمَآءَ په دے کښی اشاره ده بارانونو ته. اَلْجُرُزِ هغه زمکه ده چه بوټی دَ هغے نه اوچ شوے او پریکړے شوے وی نو شاړه پرته وی - خوره تاکے زمکے ته جُرُز نه وئیلے کیږی ځکه چه وړیسے فَنُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا ذکر کړے دے یعنی فصل په کښی نو کیدلے شی. اَنْعَامُهُمْ ئے ځکه مخکښی ذکر کړے دے چه په فصلونو او بو نو کښی دَ څاروؤ خوراک زیات وی په نسبت دَ خوراک دَ انسان.
او هرکله چه دا ایات (دلیلونه) دَ لیدلو سره تعلق لری دَ دے وجے نه دَ دے په اخر کښی اَفَلَا یُبْصِرُوْنَ ذکر کړو.

صٰدِقِیْنَ ﴿۲۸﴾ قُلْ یَوْمَ الْفَتْحِ لَا یَنْفَعُ

رشتنی یئ اُوایه په ورځ دَ فیصلے نفع نه ورکوی

الَّذِیْنَ كَفَرُوْۤا اِیْمَانُهُمْ وَلَا هُمْ

کافرانو ته ایمان راوړل دَ هغوی او نه په دوی لره

یُنْظَرُوْنَ ﴿۲۹﴾ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانْتَظِرْ

مهلت ورکیدے شی. نو مخ واړوه دَ دوی نه او انتظار کوه

اِنَّهُمْ مُّنْتَظِرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع

بقینًا دوی هم انتظار کوی.

ع ۳ ۱۸

ف۲۸:۔ دا هم زجر دے په انکار دَ قیامت سره او دا متعلق دے دَ ف۲۵ سره چه په هغې کښ دَ فصل (فیصلے دَ قیامت) ذکر اوکړو نو دوی انکار شورو کړو. الْفَتْحُ دا ماخوذ دے دَ فَتَّاحة نه په معنیٰ دَ فیصلے سره دے ځکه چه فتح ښکاره کیدل او کولاویدلو ته وائی او فیصلے سره هم ښکاره کیدل کیږی.

ف۲۹:۔ دا جواب دے. یعنی دَ دوی مقصد دا دے که چرے بالفرض دَ فیصلے ورځ راشی نو بیا به هغه وخت ایمان راوړو نو جواب اوشو چه په هغه ورځ ایمان نه قبلیږی ځکه چه دغه ایمان جبری دے. یَوْمَ الْفَتْحِ دا ظرف دے دَ پاره دَ لا ینفع.

ف۳۰:۔ دا تفریع ده په ماقبل زجرونو باندے او تسلّی ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته، او اعراض نه مراد دَ دوی نه بے پرواه کیدل او دَ دوی نه براءت کول دی. مُنْتَظِرُوْنَ یعنی دوی ستا دَ مرګ یا قتل انتظار کوی یا منکرین دَ عذاب انتظار کوی دَ مؤمنانو دَ پاره یا دا منکرین دَ خپل عاقبت هم انتظار کوی.

"تمّ تفسیر سورة تنزیل السجدة بفضله تعالیٰ"

سورة الاحزاب ۳۳ مدنية ۹۰	بسم الله الرحمن الرحيم	اٰياتها ۷۳ رکوعاتها ۹

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اتَّقِ اللّٰهَ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ

اے نبی (همیشه) ویره کوه د الله تعالیٰ نه او خبره مه منه د کافرانو

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُورة الاحزاب مدنية

ربط د دے د مخکښې سورت سره په څو طریقو سره دے۔ اوله طریقه تیرشوی سورت کښې مسئله د توحید وه نو په دے سورت کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداری ذکر کوی۔ دویمه طریقه مخکښې سورتونو کښې رد د شرک وو نو په دے سورت کښې رد دے په بدعاتو شرکیو باندے۔ دریمه طریقه تیرشوے سورتونو کښې اثبات د توحید وو نو په دے سورت تیزی ورکوی په دعوت او تبلیغ د دے مسئلے باندے۔ څلورمه طریقه د هغه سورت اختتام وو په امر د انتظار سره نو په دے سورت کښې او امر ذکر کوی د پاره د عمل کولو په زمانه د انتظار کښې۔

دعویٰ د دے سورت۔ تیزی ورکول رسول صلی الله علیه وسلم ته په دعوت او په رد د بدعاتو باندے په دولس خطاباتو کښې او تیزی ورکول امت ته عموماً او خصوصاً په اطاعت کولو او په توقیر کولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په شپارس خطاباتو کښې او اثبات د توحید په ذکر د دریے مثالونو سره او په نهه اٰیاتونو کښې۔

خلاصه د دے سورت۔ دا سورت تقسیم دے څلورو بابونو ته اول باب تر ۸ پورے دے۔ په دے کښې دعویٰ د سورت ده په ذکر د څلورو خطاباتو د رسول صلی الله علیه وسلم تر ۲۷ پورے بیا رد دے په دریے اقوالو د اهل رسومو او اشاره ده مثالونو ته په ۵ ۶ کښې۔ او خطاب دے مؤمنانو ته په ۵ ۶ کښې او پنځم خطاب د نبی دے په ۷ ۸ کښې۔

وَالْمُنٰفِقِيْنَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ①

او دَ مناقفانو یقینًا الله تعالیٰ دے پوهه حکمتونو والا

وَّاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

او تابع اوسه دَ هغې چه وحی کیدے شی تاته دَ طرف دَ رب ستا ته یقینًا الله تعالیٰ

كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ② وَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ

دَ ستا سو په عملونو باندے خبردار او کان اوسپاره په الله تعالیٰ باندې

وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ③ مَا جَعَلَ اللّٰهُ لِرَجُلٍ

او پوره دے الله تعالیٰ ذمه وار - نه دی جوړ کړی الله تعالیٰ هیڅ سړی له

تفسیر

سلسله:- په دے ایاتونو کښی څلور خطابات دی نبی صلی الله علیه وسلم ته دَ اوامر او نواهی دهٔ دَ تولو حاصل تیزی ورکول دی په دعوت او تبلیغ باندے او هغه اول سبب روحانی باطنی دے (تقوی) دویم دفع دَ موانعو دهٔ وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ او دریم طریقه او مأخذ دَ دعوت دے وَاتَّبِعْ مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ او څلورم دفع دَ خوف او وجود دَ اخلاص (وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ).

فائده:- دَ دے سورت په ابتداء کښی خازن او خطیب شربینی او نورو مفسرینو لیکلی دی چه دَ اُحد دَ واقعې نه روستو دَ مشرکانِ مکه وفد راغے او دَ منافقانِ مدینه سره ئے مشوره اوکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او هغه سره دَ اتحاد او دَ مصالحت خبره په دے طریقه اوکړه چه ته لات منات وغیره ته بد مه وایه بلکه دوی شفعاء قبول کړه او منه لکه چه زمونږ عقیده ده او مونږ به هم تاته په نورو خبرو کښی رکاوټ نه اچوؤ خپل نور دعوت کوه او منافقانو هم دَ هغوی تائید اوکړو چه دا اختلاف پریږده او دَ جنګونو نه به هم خلاص شے او دوی به په تا باندے حملے نه کوی (دَ دے تولو خبرو مقصد ترغیب دَ مداهنت ورکول وو رسول صلی الله علیه وسلم ته) نو دَ دے سورت ابتداء دَ هغوی په جواب کښی نازل شوه - يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ دا نداء دَ پاره دَ عظمت دَ نبی صلی الله علیه وسلم ده ځکه ئے محمد نه دی ویلے. او په دے کښی اشاره ده چه ته لوے شان والا ئے او خبر ورکوونکے ئے دَ الله تعالیٰ دَ حکمونو دَ دے وجے نه په دے روستو خطاباتو ضرور عمل اوکړه. اتَّقِ اللّٰهَ مراد دَ دے نه په تقوی باندے ټینګیدل او همیش ولے دے وَلَا تُطِعِ الْكٰفِرِيْنَ په شرک راپاکے په بل مخ)

مِّنْ قَلْبَيْنِ فِيْ جَوْفِهٖ ۚ وَمَا جَعَلَ اَزْوَاجَكُمُ

دوه زړونه په خېټه د هغه کښې او نه دي جوړ کړي بيبياګانې ستاسو

الّٰٓـِٔيْ تُظٰهِرُوْنَ مِنْهُنَّ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ وَمَا جَعَلَ

هغه چه تاسو ورسره ظهار کوئے مائیندے ستاسو او نه دي جوړ کړي

اَدْعِيَآءَكُمْ اَبْنَآءَكُمْ ۭ ذٰلِكُمْ قَوْلُكُمْ

ده ستاسو وينا ستاسو دا ګامن ستاسو (متبنّىٰ) په خوله بللے شوي

بِاَفْوَاهِكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي

په خولو ستاسو (بے دليله) او الله تعالىٰ وائي حق او هغه روانول کوي

السَّبِيْلَ ۝ اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَاۗىِٕهِمْ هُوَ اَقْسَطُ

لارے د حق ته. نوموئه اخله د دوي نسبت کوونکي پلارانو د دوي ته دا ډير انصاف دے

منلو کښې د کافرانو تابعداري مه کوه. وَالْمُنٰفِقِيْنَ په مداهنت کولو او د حق بيان په پريخودلو کښې د منافقانو طاعت مه کوه. مَا يُوْحٰٓى اِلَيْكَ قرآن پاک او حديث دے. وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ مراد د دے نه نفي د خوف ده د غير الله نه. وَكَيْلًا دا د الله تعالىٰ په صفت کښې مراد د دے نه هغه ذات چه د ټولو کارونو ذمه وار او تدبير جوړوونکے وي او په دے صفت کښې د الله تعالىٰ شريک نيشته د دے وجے نه وَكَّلْ ئے ذکر کړے دے.

سـ:. مقصود په دے ايت کښې ترديد د مشرکانو دے په درے اقوالو باندے. اول قول د دوي چه نبي صلى الله عليه وسلم ته ئے ويلے وو چه ته زموږ معبودان شفعاء (تهريه) او منه او موږ په تاسره عظمت او کبرياء د الله تعالىٰ تسليم کړو نو د دے رد ئے اوکړو چه د عقيدے محل زړه دے او شرک او توحيد دوه متضاد عقيدے دي په يو زړه کښې دواړه نشي جمع کيدے ځکه چه اجتماع د ضدينو په يو محل کښې عقلاً محال ده او دوه زړونه خو د يو کس د پاره کيدے نشي نو معلومه شوه چه يو کس موحد او مشرک په يو وخت نشي کيدے (روح د دے ايت تعلق دے د اتق الله سره). دوئيم قول د دوي چه زوجه (ښځې) ته به ئے اوئيل چه دا په ما باندے په د مور پشان دي نو هغه به ئے حقيقتاً مور ګڼله او هميشه د پاره به ئے په ځان باندے حرامه ګرځوله چه د هغے تفصيل او ترديد به په سورت

عِنْدَ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ لَّمْ تَعْلَمُوْۤا اٰبَآءَهُمْ فَاِخْوَانُكُمْ

په نیز دَ الله تعالیٰ نو که نه پیژنئ پلاران دَدوی نو رونړه ستاسو دی

فِي الدِّيْنِ وَمَوَالِيْكُمْ ؕ وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ

په دین کښ او مریان (آزاد شوی) ستاسو دی او نیشته په تاسو باندے گناه

فِيْمَاۤ اَخْطَاْتُمْ بِهٖ ۙ وَلٰكِنْ مَّا تَعَمَّدَتْ

په هغے کښ چه خطا شئ تاسو په هغے سره او لیکن (گناه دے) په هغے کښ چه قصد اوکړی

قُلُوْبُكُمْ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

زړونه ستاسو او دے الله تعالیٰ بخښنه کوونکے رحم کوونکے۔

مجادله کښ راغیٔ۔ مراد دادے چه په یوه سینه کښ دادواړه صفتونه متضاد نشی جمع کیدلے چه هم دِ مور وی او هم دِ زوجه وی او په دے کښ اشاره ده په طور دَ مثال سره چه عبد معبود نشی کیدلے۔ دریم قول دَدوی چه دَ بل چا ځوئی ته به یے اُویل چه ته به زما ځوئے یئ او هغه ته متبنیٰ ویلے کیدی نو بیا به یے ویل چه دا ځوئے دے دَ ځوئی احکام به یے پرے چلول او دَ هغه ښځه به یے دَ انگور پشان په ځان باندے همیشه حرامه گنڼله. نو مراد دادے چه په یو ولد کښ دا صفتونه متضاد نشی جمع کیدلے چه هم دِ دَ یو مور او پلار نه پیدا وی او هم دِ دَ بل مور او پلار نه پیدا وی او په دے کښ هم اشاره ده چه که مشرکان دعویٰ او زعم کوی دَ یو بنده په باره کښ چه دے ولد دَ الله تعالیٰ دے او فریاد رس او معبود دے نو دا اجتماع دَ ضدینو ده او محال ده عقلاً او شرعًا. په روستنو دواړه جملو کښ رد دے دَ مشرکانو په شرك فی التحلیل والتحریم باندے چه حلال شرعی لره په ځان باندے حرام گنڼی بغیر دَ دلیل شرعی نه۔ او دا درے اوهام دَ مشرکانو اعتراضونه وو په نبی صلی الله علیه وسلم باندے چه دَ هغے په سبب سره دوی هغهٔ لره دَ دعوت او تبلیغ دَ حق نه منع کول غوښتل نو دَ هغے جوابونه اوشول نو دَ دے تعلق دے دَ (ولا تطع الکافرین والمنافقین) سره۔ قَوْلُكُمْ بِاَفْوَاهِكُمْ دا کنایه ده چه دا دینا بے دلیله ده لکه چه یو قول په خولے سره وی او په زړه کښ نه وی نو هغه باطل وی۔ وَاللّٰهُ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَهُوَ يَهْدِي السَّبِيْلَ په دے کښ اشاره ده چه دا درے واړه خبرے عقلاً هم یقینی دی او په شرع دَ الله تعالیٰ سره هم صحیح ثابت دی۔

ف۔ دا اول خطاب دے مؤمنانو ته دَ پاره دَ رد دَ رسم دَ مشرکانو. ریاتے په بل مخ)

النَّبِيُّ أَوْلَىٰ بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ

نبي ډیر مهربان دے په مؤمنانو باندے دَ ځانونو دَ هغوی نه او بیبیانے دَ

أُمَّهَاتُهُمْ وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ

میندے دَ هغوی دی او رشته داران بعض دَ دوی حق دار دی نورو میراث دَ بعضو سره

او ذکر دَ ادب دے په باره دَ متبنیٰ کښ. او هرکله چه په دے سورت کښ واقعه دَ زید بن حارثه ته اشاره وه چه دَ هغهٔ نه رسول الله صلی الله علیه وسلم متبنیٰ جوړ کړے وو او خلقو به ورته زید بن محمد ویل او بیا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ زید طلاق کړے شوے ښځے (زینب) سره په حکم دَ الله تعالیٰ سره نکاح او کړو نو مشرکینو او منافقانو اعتراضونه کول شورو کړل چه دا څنګه پیغمبر دے چه زنګور (دَ خوئی ښځے) سره ئے نکاح او کړو نو دَ دے وجے نه په دے سورت کښ ئے دَ هغوی تردید او کړو آیت څلورم کښ او فرمائیل چه زید دَ نبي صلی الله علیه وسلم ځوئی نشی کیدے نو په دے آیت کښ منع کوی چه زید دَ ځوئی په طریقه سره نبي صلی الله علیه وسلم ته مه منسوب کوئے. اُدْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ مراد دَ دُعا نه ذکر کول دَ نوم دَ متبنیٰ دی او دا رنګ هغه ته آواز ورکول یعنی وائے زید بن حارثه او آواز کوئے یا زید بن حارثه.

او دَ دے حکم دَ وجے نه دَ عربو عادت هم دا دے چه اکثر اسم کنیت ئے په ابن فلان سره وی لکه ابن عباس ابن عمر ابن مسعود رضی الله عنهم او دا رنګ روستو علماء لکه ابن تیمیه ابن قیم وغیرهما. او هرچه ابو فلان دے نو هغهٔ کله اسم کنیت وی کله چه فلان ځوئے موجود وی لکه ابو العباس ځکه چه عباس ځوئے (دَ ابن عباس) موجود وو او کله دَ صفت په طور سره استعمالیږی لکه "ابو القاسم دَ نبي صلی الله علیه وسلم په صفت کښ" ځکه چه مراد ترینه وصف دَ قاسمیت دے دا نه ده چه قاسم ئے ځوئے وو دا رنګ ویلے شوے دی په باره دَ ابوحنیفه رحمته الله علیه کښ.

فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ یعنی چه دَ پلار نوم ئے نوی معلوم نو دا سے وائے یا اخی یا دا سے وائے یا مولیٰ فلان او دَ مَوَالِيكُمْ دوه معنے دی اوّل معنیٰ دوست یعنی ستاسو دینی دوستان دی. دویمه معنیٰ غلام آزاد کړے شوے لکه زید لره چه نبي صلی الله علیه وسلم آزاد کړے وو نو وائے مولیٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم.

وَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ دا عام قانون الٰهی دے که په مسئله دَ متبنیٰ کښ وی او که په نورو اقوالو کښ وی خو خطاء په تولو کښ معاف ده. او هرکله چه خطاء معاف ده نو نسیان په طریق اولیٰ سره معاف دے ځکه په خطاء کښ حکم یادوی خو خلاف ترینه بے ارادے اوځی او په نسیان کښ حکم هیر وی.

فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ وَالْمُهٰجِرِیْنَ

په حکم د الله تعالیٰ کښې د مؤمنانو او مهاجرینو نه

اِلَّاۤ اَنْ تَفْعَلُوْۤا اِلٰۤى اَوْلِیٰٓىِٕكُمْ مَّعْرُوْفًا ؕ كَانَ

مګر دا چه کوئ پکار دی د دوستانو ستاسو سره نیکی دے

ذٰلِكَ فِی الْكِتٰبِ مَسْطُوْرًا ۞ وَاِذْ اَخَذْنَا

دا (حکم د الله تعالیٰ) په کتاب کښې لیکلے شوے ۔ او کوم وخت چه واغستو مونږ

سلا:۔ دا دویم خطاب دے مؤمنانو ته په باره د عظمتِ شان د نبی صلی الله علیه وسلم او د بیبیانو د هغهٔ کښې ۔ اَوْلٰی اوله معنیٰ دا ده چه زیات شفقت کوونکے او مهربان دے په مؤمنانو باندے د نفسونو د دوی نه ځکه چه نفس یُ اکثر خواهشاتو ته بلنه کوی او هغه سبب د هلاکت دے او پیغمبر په هرحال کښې هدایت او نجات ته بلنه کوی. نو معلومه شوه چه شفقت د دهٔ د نفسونو بلکه د پلارانو نه هم زیات دے ۔ دویمه معنیٰ دا ده چه تابعداری کول د نبی صلی الله علیه وسلم ډیر غوره او مخکښې ده د تابعدارئ د نفسونو نه او لحاظ کول د نبی غوره دی د لحاظ کولو د نفسونو نه لکه چه سورة توبه سلا۱۲۰ کښې دی ۔ لیکن دلته اوله معنیٰ غوره ده او په هغې کښې اشاره ده چه پیغمبر ستاسو د پلار پشان دے د دے وجه نه په قراءت د ابیُّ بن کعب رضی الله عنه کښې " وهوابوهم" راغلی دے نو پلار پسے د عیب خبرے کول ناجائز دی ۔ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ مراد دے نه تشبیه ده د مایندو سره په واجب کیدلو د تعظیم د هغوی کښې او په همیشه حراموالی د نکاح د هغوی کښې یعنی د هغهٔ په بیبیانو پسے هم د عیب خبرے مکوئ پشان د مایندو ویُ او کنړے ۔

وَاُولُوا الْاَرْحَامِ په دے جمله سره یو وهم دفع کوی هغه دا دے چه هر کله نبی صلی الله علیه وسلم پشان د پلار د امت دے او بیبیانے د هغهٔ مایندے دی ستاسو د هغوی میراث هم د دے امت حق به وی؟ جواب او شو چه د میراث تعلق د نسب سره دے او مراد د اولوالارحام نه قرابت د نسب دے ۔ فِیْ كِتٰبِ اللّٰهِ، مراد د دے نه حکم د میراث دے ۔ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ دا متعلق دے د اَوْلٰی سره یعنی نسب د میراث په باره کښې مخکښې دے د ایمان او د هجرت نه یا متعلق دے د بَعْضُهُمْ سره یعنی مِنْ بیانیه دے ۔ او دا دواړه صفتونه د دے وجه نه خاص ذکر کړل چه ایمان سبب د دوستانے او د محبت دے او هجرت سبب د حاجت دے یعنی اګرچه (پاتے په بل مخ)

مِنَ النَّبِيّٖنَ مِيْثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ

دَ ټولو پيغمبرانو نه لوظ دَ هغوی او خاص ستانه او دَ

نُّوْحٍ وَّاِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى وَعِيْسَى ابْنِ

نوح او ابراهيم او موسیٰ او عيسیٰ ځوئی

مَرْيَمَ ۠ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۝۷

دَ مريم عليه السلام نه او اخستلے وُ مونږ دَ دوی نه لوظ پوخ

لِّيَسْـَٔلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ ۚ وَاَعَدَّ

دے دَپاره چه تپوس به کوی دَ رشتينو نه دَ رشتيا وينا دَ هغوی او تيار کړے دے

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝۸ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

کافرانو لره عذاب دردناک . اے ايمان والو

ع ۱۷

دا دواړه اسباب شته ليکن دا دَ ميراث دَپاره اسباب نشی کيدے. او دَ دے وجے نه تصلی يئے نه دی ذکر کړی بلکه هغه په المومنين کښ داخل دی. اِلَّآ اَنْ تَفْعَلُوْٓا اِلٰٓى اَوْلِيٰٓئِكُمْ مَّعْرُوْفًا مراد دَ اولياء نه دوستان په سبب دَ ايمان او دَ هجرت سره دی او دَ معروف نه مراد وصيت کول، هديه ورکول او احسان کول دی او دا استثناء منقطع ده يعنی اِلَّا په معنیٰ دَ لکن دے او ان تفعلوا په تاويل دَ مصدر سره مبتدا ده او خبر يئے حذف لکه جائز لفظ دے. الْكِتٰبِ دَ دے نه مراد لوح محفوظ دے يا مخکښنی کتابونه دی چه په هغې کښ دا حکم دَ احسان کولو دَ يو بل سره ذکر کړے شوے دے.

ک سـ۸ . په دے کښ پنځم خطاب دے رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په پاره دَ دعوت کښ دَ دعوت کولو دَپاره. او ربط مخکښ ايت سره يئے دا دے چه په هغې کښ ثابته شوه چه نبی زيات شفقت او رحم کوی په امت باندے نو په دے ايت کښ دَ هغې سبب ذکر کوی يعنی دا نبی داعی دے او داعی لره پکار دی چه شفقت کوی پشان دَ پلار په اولاد باندے. مِيْثَاقَهُمْ دَ دے نه مراد ميثاق دے دَ دعوت او تبليغ توحيد ته او تصديق کولو دَ يو بل ته. وَمِنْكَ دا خطاب دے زمونږ نبی صلی الله عليه وسلم ته او دا دَ النَّبِيّٖنَ نه روستو تخصيص بعد التعميم دے ځکه چه په دے پنځو انبياؤ باندے تکليفونه ډير تير شوی دی او دَ دوی امتونه هم ډير مشهور دی.

اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَآءَتْكُمْ

يا دوئ نعمت دَ الله تعالىٰ په تاسو باندے كله چه راغلى تاسو ته

جُنُوْدٌ فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا وَّجُنُوْدًا لَّمْ

لښكرے نو راولېږل موننږ په دوى باندے سيلئ او لښكرے (دَ ملائكو) چه تاسو

تَرَوْهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ⑨

نه ليدلے او دِے الله تعالىٰ ستاسو عملونو لره ليدونكے.

مِيْثَاقًا غَلِيْظًا دَ دے نه مراد اول ميثاق دے ليكن دَ تاكيد دَپاره ئے دوباره ذكر كړو او غليظ نه مراد پوخ والے دَ هغے دے په حلف بالله سره. يا دَ اول ميثاق نه مراد دعوت او تبليغ دے او دَ دويم نه مراد تصديق دَ اٰخرى رسول دے لكه چه سورة اٰل عمران ۸۱ كښ ذكر شويدے. لِيَسْئَلَ دا علت يا عاقبت دَ ميثاق اخستلو دے. صِدْقِهِمْ دَ دے نه مراد صدق دے په دعوت او تبليغ كښ او سوال دَ انبياؤ نه په سورة اعراف ۶ كښ هم ذكر دے. وَاَعَدَّ دا عطف دے په اخذنا باندے په تقدير سره په عبارت كښ يعنى وعده دَ انبياؤ نه دَ دعوت په باره كښ دَپاره دَ دے چه ثواب وركړى الله تعالىٰ مؤمنانو لره او تيار كړے دے عذاب دَپاره دَ كافرانو. يا په عبارت كښ دواړو طرفونو نه حذف دے تقدير دا دے لِيَسْئَلَ الصّٰدِقِيْنَ عَنْ صِدْقِهِمْ فَاَثَابَهُمْ وَيَسْئَلَ الْكَافِرِيْنَ عَنْ كِذْبِهِمْ وَاَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا.

۹:- دَ دے ايت نه تر ۲۸ پورے دويم باب دے په دے كښ دوه خطابات دى مؤمنانو ته په ۹، ۲۱ كښ، او په مينځ كښ تقابل دَ حال دَ مؤمنانو او منافقينو دے او دَ منافقانو خوارُس قبائح ذكر كوى. او بشارتونه دى مؤمنانو ته په نصرت او غلبے سره په غزوه خندق او غزوه بنى قريظه كښ. په دے ۹ كښ درېيم خطاب دے مؤمنانو ته حاصل ئے دا دے چه دَ دے نبى صلى الله عليه وسلم اطاعت او ادب په دے وجے سره كوئے چه دَ دهٔ دَ اطاعت په سبب الله تعالىٰ تاسو سره امداد كړے دے او دَ منافقانو اطاعت دَ دے وجے نه مه كوئے چه هغوى په غزوهٔ خندق كښ ستاسو منكر تيا پرېخودے دو. په دے اياتونو كښ غزوهٔ خندق چه هغے ته غزوه احزاب هم وئيلے كيږى ذكر كوى په پنځم كال دَ هجرت كښ قريش او غطفان او يهود بنو قريظه ټولو په يوځل په مدينه منوره باندے دَ حملے كولو عزم اوكړو نو نبى صلى الله عليه وسلم دَ مدينے دَ بچ كولو دَپاره دَ سلمان فارسى رضى الله عنه رايے په بل مخ)

إِذْ جَآءُوكُم مِّن فَوْقِكُمْ وَمِنْ أَسْفَلَ مِنكُمْ

هر کله چه دوی راغلل تاسو ته دَ بره طرف ستاسو نه او دَ کوز طرف ستاسو ته

وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ وَبَلَغَتِ الْقُلُوبُ الْحَنَاجِرَ

او کله چه کږې شوې سترګې او اورسیدل زړونه غاړو مرو ته

وَتَظُنُّونَ بِاللَّهِ الظُّنُونَا ﴿١٠﴾ هُنَالِكَ ابْتُلِيَ

او ګمانونه کول تاسو په الله تعالیٰ باندې ګمانونه - دغه وخت ازمائښت اوکړې شو

په رأی سره دَ صحابو په ملګرتیا کښې خندق اوکنستلو او په هغې کښې دَ ډیرو معجزاتو اظهار هم شوی دې. او مسلمانان هم تقریبًا درې زره لښکر وو او یو میاشت تیره شوه چه جنګ دَ دوی په مینځ کښې او نشو بلکه کله کله ویشتل دَ غشو اوکانړو کیدل.
آخرکار الله تعالیٰ په هغوی باندې سیلۍ دَ صبا را اولیږله چه دَ هغوی خیمې ئې را اویستلې او دَ هغوی اورونه ئې مړه کړل اوکټوئې ورلړه اوغورځولې او ملائک هم را اولیږلې شول چه هغوی دَ تکبیرونو آوازونه دَ دوی په خوائکښې کول او دَ دوی ځونه ئې واړول نو بغیر دَ جنګ نه کافران اوتختیدل او سامانونه ترینه پاتې شول نِعْمَةَ اللَّهِ دَدې نه مراد مدد دَ الله تعالیٰ دې رِيحًا مراد دَدې نه رِيحَ الصَّبَا (بادِ صبا) دې ځکه چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلي دی (نصرت بالصبا واهلکت عاد بالدبور) بادِ صبا دَ مشرق دَ طرف نه راځي او دبور دَ مغرب دَ طرف نه راځي. وَجُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا دَدې نه مراد ملائک دی او مخکښې جنود نه مراد لښکرې دَ کافرانو دی.
سنا:- په دې آیت کښې هیبت او سختي دَ هغه وخت ذکر کوی چه بنو غطفان دَ مدینې دَ اوچت طرف نه راغلل یعني دَ مشرق دَ طرف نه او قریش دَ مدینې دَ کوز طرف نه یعني دَ مغرب نه راغلل. وَإِذْ زَاغَتِ الْأَبْصَارُ دا اشاره ده چه دَ ډیرې یرې او هیبت دَ وجې نه سترګو باندې اثر اوشي او دا رنګ په زړونو باندې هم ډیر اثر اوشو نو دواړه په ظاهر باندې حمل دی یا مراد ترینه زیات رعب او یره ده. الظُّنُونَا مختلف ګمانونه، دَ مؤمنانو ګمان دا وؤ چه الله تعالیٰ خپله وعده دَ غلبې دَ دین پوره کوی لیکن په موږ باندې امتحان کوی او یریدل دَ بې صبرئ نه او منافقانو ګمانونه کول چه دا رسول حق نه دې ځکه پرې دومره زیات مصیبت راغې او الله تعالیٰ ورسره امداد نه کوی.

الْمُؤْمِنُونَ وَزُلْزِلُوا زِلْزَالًا شَدِيدًا ﴿۱۱﴾

په مؤمنانو باندے او جزقولے شول په جزکولو سخت سره۔

وَإِذْ يَقُولُ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم

او کوم وخت چه ویل منافقانو سره او هغه کسانو چه په زړونو دَ هغوی

مَّرَضٌ مَّا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ إِلَّا غُرُورًا ﴿۱۲﴾

کښې شک دۓ چه وعده نه ده کړے موږ سره الله تعالیٰ او رسول دَ هغه مګر دهوکه۔

وَإِذْ قَالَت طَّائِفَةٌ مِّنْهُمْ يَا أَهْلَ يَثْرِبَ

او کوم وخت چه اُویل یو ډلے دَ دوی نه اے یثرب (مدینے) والو

لَا مُقَامَ لَكُمْ فَارْجِعُوا وَيَسْتَأْذِنُ فَرِيقٌ

نیشته طاقت ستاسو نو واپس شئ او اجازت غوختلو یو ډلے

مِّنْهُمُ النَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوْرَةٌ

دَ دوی نه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه دوی ویل یقیناً کورونه زموږ خالی دی

مع

وَمَا هِيَ بِعَوْرَةٍ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارًا ﴿۱۳﴾

او نه دی هغه خالی دوی نه غواړی مګر تختیدل۔

۱۱:۔ دا هم اشاره ده سخت والی دَ دغه حالت ته لیکن دا سے سختے دَ مؤمنانو مخلصانو دَ پاره ابتلاء وی عذاب نه وی او ابتلاء سبب دَ اوچت والی دَ درجو دے۔ او دَ ابتلاء اثر په زړه باندے او په باطنی قوتونو باندے وی او دَ زلزال اثر په ظاهری اندامونو باندے وی لیکن په دواړو حالتونو کښې مؤمن ثابت قدم وی او خپل دین نه بل طرف ته انتقال نه کوی۔

۱۲:۔ دا بیان دَ حال دَ منافقانو دے په دغه واقعه دَ احزاب کښې او هغوی ته زجرونه دی او دَ هغوی صفاتِ قبیحه دی دلته مراد دَ مَّرَضٌ نه مرتبه دَ شک ده چه هغه هم یو قسم دَ منافق اعتقادی دے إِلَّا غُرُورًا یعنی په وعده دَ نصرت او فتح سره ئے موږ دَ دین دَ مشرانو نه په دوکه سره را اوبیستلو او س موږ سره امداد نه کوی او دا کلمه دَ کفر ده دا دَ منافق اول قبیح صفت دے۔

۱۳:۔ په دے ایت کښې زجر دے منافقینو ته او دَ هغوی دوه ډلے ذکر کوی۔ اوله ډله چه خلق ئے دَ قتال فی سبیل نه واپس کول او دویمه ډله چه بخپله ځانے په بل مخ)

وَلَوْ دُخِلَتْ عَلَيْهِمْ مِّنْ اَقْطَارِهَا ثُمَّ سُئِلُوا

او که چرے داخل کړے شی لښکرے په دوی باندے دَ ټولو طرفونو دَ مدینے نه بیا او غوختے شی

الْفِتْنَةَ لَاٰتَوْهَا وَمَا تَلَبَّثُوا بِهَآ اِلَّا يَسِيْرًا ﴿۱۴﴾

دَ دوی نه شرک ضرور او به کړی دوی هغه او حصار به نشی په دے کښ مګر لږ.

دَ جهاد نه په دروغو عذرونو سره پاتے کیدل. اول قسم لږ کسان وو نو هغوی ته یے طائفة اُویل او دویم ډله ډیره وه نو هغوی ته یے فَرِيْقٌ اُویل. او په دے ایت کښ دَ منافقانو درے قباحتونه یے ذکر کړے دی. يَثْرِبَ، دَ جاهلیت په وخت کښ مدینے ته یثرب ویلے کیدلو ځکه چه دَ دے اب وهوا خرابه وه او پکښ مرضونه وو او ثراب ملامتیا او خفګان ته ویلے کیږی لکه لا تثریب علیکم الیوم، نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم دَ دے دَ پاره دُعا اوغوښتله چه یا الله تعالیٰ دَ دے نه تبے او مرضونه جحفے ته نقل کړے (هغه وخت جحفه کښ یهودیان اوسیدل) او دیته یے مدینة اوطابة نوم کیخودلو او بعض روایاتو کښ راغلی دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ یثرب نوم اغستل دَ مدینے نه منع اوکړله. لیکن منافقانو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم خلاف کولو دَ دے وجے نه یثرب لفظ یے استعمال وو. او بعض مفسرینو ویلے دی چه دا ښار اول چه کوم سړی اباد کړے وو دَ عمالقه نه وو او نوم یے یثرب بن عمیل وو دَ دے وجے نه دَ دے نوم یے یثرب کیخودلے وو. لَا مُقَامَ په پیښ دَ میم سره په معنیٰ دَ اقامت دے مراد ترینه دلته طاقت دَ مقابلے دے. فَارْجِعُوا دَ میدان جنګ نه واپس شئ یا دَ دین اسلام نه واپس شئ دین دَ مشرکانو ته. عَوْرَةٌ، عَور عیب او نقصان ته ویلے کیږی یعنی محفوظ نه دی دروازے یے نیشته یا دیوالونه یے کوز دی نو دشمن ورته په اسانه سره داخلیدلے شی یا خالی دی دَ حفاظت کوونکو نه.

اِنْ يُّرِيْدُوْنَ اِلَّا فِرَارًا یعنی دوی په دے بهانه سره دَ کورونو حفاظت نه غواړی بلکه دَ قتال نه تختیدل غواړی.

۱۴:۔ دا هم زجر دے منافقانو ته او دَ دوی دوه قباحتونه یے ذکر کړے دی اشاره ده لکه چه دوی دَ میدان جهاد نه تختیدلو ته تیار دی دا سے دوی دَ دین توحید نه واپس کیدلو ته هم تیار دی. وَلَوْ دُخِلَتْ اشاره ده چه لښکرے دَ کافرانو مدینے ته په احزاب کښ داخل شوے نه وے. الْفِتْنَةَ دَ دے نه مراد شرک کول یا دَ مؤمنانو په مقابله کښ جنګ کول دی بِهَا دا ضمیر راجع دے فتنے ته مراد ترینه اجابت دَ فتنے دے یعنی په قبلولو دَ فتنه کښ دوی حصاریدل نه کوی بلکه زر یے قبلوی یا

وَلَقَدْ كَانُوا عَاهَدُوا اللَّهَ مِن قَبْلُ لَا يُوَلُّونَ

او یقینًا دوی وعده کړې وه د الله تعالیٰ سره د دې نه مخکښ چه نه به ګرځوی

الْأَدْبَارَ ۚ وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولًا ﴿١٥﴾ قُل

شاګانې او ده وعده د الله تعالیٰ تپوس لې شوې. ته اُوايه

لَّن يَنفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِن فَرَرْتُم مِّنَ

چرې نفع به درنکړی تاسو ته تختيدل که چرې تختته کوئ تاسو د

الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ وَإِذًا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٦﴾

مرګ یا د وژلو نه او دغه وخت مزې به درنکړې شی مګر لږ وخت.

قُلْ مَن ذَا الَّذِي يَعْصِمُكُم مِّنَ اللَّهِ إِنْ

ته اُوايه څوک دې چه تاسو به بچ کړی د الله تعالیٰ نه که چرې

أَرَادَ بِكُمْ سُوءًا أَوْ أَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً ۚ وَلَا يَجِدُونَ

او غواړی په تاسو باندې مصيبت یا او غواړی په تاسو باندې رحمت (نو څوک به ئې منع کړی) او او به نه موندی دوی

دا ضمیر راجع دے مدینے ته یعنی روستو د فتنے قبلولو نه به په مدینه کښ حصار نشی بلکه په عذاب باندے به زر هلاک شی۔

۱۵: په دے ایت کښ هم زجر دے منافقانو ته او بو قباحت ئې (نقض عهد) ذکر کړے دے. لَا يُوَلُّونَ الْأَدْبَارَ د دے نه روستو تقدیر د عبارت دا دے فنقضوا هذا العهد فی غزوة الاحزاب (دا لوظ ئې په غزوه احزاب کښ مات کړو) وَكَانَ عَهْدُ اللَّهِ مَسْئُولًا یعنی وفاء عَهْدُ اللَّهِ او مَسْئُولًا الوفاء بِهِ یعنی د وفاء عهد الله به تپوس کیدے شی او د دے جملے فائده دا ده که څوک وهم اوکړی چه دا دوی د دے وجے نه د دے عهد نه خلاف اوکړو چه دا پوره کول خو واجب نه دی نو جواب اوشو په دغے جملے سره۔

۱۶: په دے کښ هم زجر او تخویف دے منافقانو ته د هغوی په بے لوظے باندے چه هغه شا ګرځول یعنی تختیدل دی. مِنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ مراد ترینه ځائے د مرګ او د قتل دے لکه د میدان جهاد نه تختیدل یا د ځائے د طاعون او د وبا نه تختیدل دا دواړه ګناهونه دی. او د مرګ نه پرے بچ کیدل هم نه کیږی که چرے اجل مقرر وی. وَإِذًا یعنی که چرے څوک او تختی او نیتیه نه وی نو مرګ خو بیا هم نزدے دے او ژوند لږ دے نو د لږے فائدے د پاره د ډیرو فائدو د جهاد نه ځان محروم کول د بے عقلو خلقو کار دے.

لَهُم مِّن دُونِ اللَّهِ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿١٧﴾ قَدْ

نشته لره سوا د الله تعالی نه څوک کوونکی او نه امداد دی. یقینًا

يَعْلَمُ اللَّهُ الْمُعَوِّقِينَ مِنكُمْ وَالْقَائِلِينَ

پیژنی الله تعالی منع کوونکی (د جهاد نه) ستاسو نه او وینا کوونکی

لِإِخْوَانِهِمْ هَلُمَّ إِلَيْنَا ۖ وَلَا يَأْتُونَ الْبَأْسَ

رونړو خپلو ته چه راشئ مونږ ته او نه راځی دوی جنګ کولو ته

إِلَّا قَلِيلًا ﴿١٨﴾ أَشِحَّةً عَلَيْكُمْ ۖ فَإِذَا جَاءَ الْخَوْفُ

مګر لږ بخیل کوونکی دی په تاسو باندے نو کله چه راشی ویره

رَأَيْتَهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ تَدُورُ أَعْيُنُهُمْ

وبه ګورې ته دوی لره ګوری په تاته اوړی را اوړی سترګې د دوی

ف۱۷۔ دا هم زجر دے یعنی که څوک اوائی چه ډیر کرته انسان او تختی نو د مرګ او قتل نه بچ پاتے شی نو په دے ایت کښ جواب ورکوی چه که چرے الله تعالی د دے انسان بل تکلیف او مصیبت او غواړی نو هیڅوک ئے نشی بچ کولے. او په ایت کښ رد د شرک فی التصرف دے چه هیڅ ولی بزرګ وغیره مالک د نفع او د ضرر نه دے. اَوْ اَرَادَ بِكُمْ رَحْمَةً هر کله چه د رحمت سره د يَعْصِمُكُمْ مناسبت نیشته نو معلومه شوه چه دلته عبارت کښ تقدیر دے یعنی من یصبکم بسوء یا و من یمنعکم رحمته تعالی. وَلِيًّا دا متعلق دے د یعصمکم سره نَصِيرًا متعلق دے د رحمة سره.

ف۱۸۔ په دے ایت کښ زجر دے منافقانو ته او د هغوی درے قباحتونه ئے ذکر کړے دی. مخکښ ذکر شوه چه تیښته کوی د جهاد نه او س ذکر کوی چه نورو خلقو لره منع کوی. قَدْ يَعْلَمُ دا قَدْ د پاره د تحقیق دے او مقصود په دے کښ نور ته او بیه ورکول دی. الْمُعَوِّقِينَ چه د تابعدارے د نبی صلی الله علیه وسلم او د قتال فی سبیل الله نه خلقو لره منع کوی. هَلُمَّ په لغت د اهل حجاز وکښ دا لفظ د مفرد او تثنیه او جمع د پاره یو شان استعمالیږی.

إِلَّا قَلِيلًا مراد د دے نه د ریاء او د نیوی مقصد د پاره جنګ ته راتلل دی او په دے کښ اشاره ده چه کوم عبادت چه غلط نیت سره وی نو که ډیر وی نو هم د الله تعالی په نیز لږ دے.

كَالَّذِي يُغْشٰى عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۚ فَاِذَا

پشان دَ هغه چاچه بے هوشی وربانده راو ستلے شی دَ مرګ دَ وجے نه نو کله چه

ذَهَبَ الْخَوْفُ سَلَقُوْكُمْ بِاَلْسِنَةٍ حِدَادٍ

لاړه شی ویره نو تکلیف درکوی تاسو ته په تیزو ژبو سره

اَشِحَّةً عَلَى الْخَيْرِ ۭ اُولٰۗىِٕكَ لَمْ يُؤْمِنُوْا

حرص کوؤنکی دی په مال بانده دغه کسانو ایمان نه دے راوړے

فَاَحْبَطَ اللّٰهُ اَعْمَالَهُمْ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

نو برباد کړل الله تعالیٰ عملونه دَدوی او دے دا کار په الله تعالیٰ بانده

يَسِيْرًا ⑲ يَحْسَبُوْنَ الْاَحْزَابَ لَمْ يَذْهَبُوْا ۚ

آسان ګمان کوی دوی په ډلو دَ کافرانو بانده چه هغوی نه دی تلی

وَاِنْ يَّاْتِ الْاَحْزَابُ يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ

او که چرے راشی دغه ډلے نو غواړی (دا منافقان) چه ارمان دے چه دوی دیره وے

س۱۹۔ په دے ایت کښ دَ منافقانو نور بَنځه قبائح ذکر کوی اَشِحَّةً جمع دَ شحیح
ده. بُخل او حِرص ته وائی او دا متعلق دے دَ مخکښ ایت سره چه دوی تاسو
منع کوی دَ جهاد نه او پخپله هم نه کوی دا دَ دے وجے نه چه دوی بخل کوی ستاسو
دَ فائدے او دَ خیر په باره کښ یعنی چه تاسو ته څه خیر او فائده او نه رسیږی۔
فَاِذَا جَآءَ الْخَوْفُ اه په دے کښ دَ دوی بُزدلے ته اشاره ده مراد الْخَوْفُ نه خبر
دَ قتال او دَ حملے کولو دَ دُشمنانو دے۔
كَالَّذِي يُغْشٰى اه یعنی دَ ځنکدن په وخت کښ دَ سترګو حرکت بے اختیاره شی۔
سَلَقُوْكُمْ سلق په اصل کښ بسط (راوګډولو) دَ لاس او دَ ژبے ته وائی په طریقه
دَ سختئ او تکلیف ورکولو سره. مراد دا دے چه تیزے او دَ چالاکے خبرے کوی
چه موږ تاسو سره شریک وو نو موږ له په غنیمت کښ حصّه راکړئ۔
اَشِحَّةً دا په معنیٰ دَ حِرص دے یعنی حِرص کوؤنکی دی په حاصلولو دَ
مال بانده۔

فِى الْاَعْرَابِ يَسْأَلُوْنَ عَنْ اَنْبَآئِكُمْ ؕ وَلَوْ

په باندړو کښې تپوسونه به ئې کولے ستاسو د خبرونو نه او که چرے

كَانُوْا فِيْكُمْ مَّا قٰتَلُوْٓا اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٢٠﴾ لَقَدْ كَانَ

ع ۲ ۱۸

وے دوی په تاسو کښې نو جنګ به نه وو کړے دوی مګر لږ . یقیناً شته دے

لَكُمْ فِىْ رَسُوْلِ اللّٰهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ

ستاسو دپاره په ذات د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې نمونه د تابعدارئ د ښتے هغه چا دپاره

كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ وَذَكَرَ اللّٰهَ

چه عقیده لری د الله تعالیٰ (د توحید) او د ورځ روستنۍ او یاد وی الله تعالیٰ ئې

كَثِيْرًا ﴿٢١﴾ وَلَمَّا رَاَ الْمُؤْمِنُوْنَ الْاَحْزَابَ ۙ قَالُوْا

ډیر . او هرکله چه اولیدلے مؤمنانو ډلے د کافرانو دوی اُوئیل

ف۲۰: دا هم زجر دے او په دے ایت کښې د دوی درے قبائح ذکر کوی او په دیکښې هم اشاره ده بزدلے د دوی ته یعنی که دوی ته اُویلے شی چه دشمنان لاړل نو دوی د ډیرے یرے د وجے نه دا نه منی . يَوَدُّوْا لَوْ اَنَّهُمْ بَادُوْنَ فِى الْاَعْرَابِ یعنی اول کرتے چه احزاب راغلل نو دوی بعض کسانو شرکت او کړو د مؤمنانو سره د وجے د بے خبرئے نه او که چرے دوباره احزاب راغلل نو دوی به د ډیرے یرے د وجے نه مدینه هم پریږدی باندړو ته به لاړ شی . يَسْأَلُوْنَ عَنْ اَنْبَآئِكُمْ دا هم د منافقت د وجے نه یعنی تپوسونه کوی چه غنیمت مؤمنانو حاصل کړو دے دپاره چه حصه تری نه اوغواړی یا د دے دپاره چه بیا په مؤمنانو باندے احسان واچوی چه مونږ خو ستاسو تپوسونه کول ستاسو د حال نه مونږ ځان خبرساتلو . اِلَّا قَلِيْلًا دلته هم مراد د قلیل نه ریاکاری ده مخکښې ایت (۱۸) کښې د جهاد نه د غیر حاضرے حالت مراد وو په دے ایت کښې د حاضرے وخت مراد دے .

ف۲۱: دا څلورم خطاب مؤمنانو ته او تاکید دے په تابعدارئے د نبی صلی الله علیه وسلم باندے او رد دے په منافقانو باندے چه هغوی په جهاد کښې شرکت نه کوؤ او چا چه شرکت کوؤ هم په اخلاص سره نه وو نو په دے کښې رد د هغوی دے چه نبی صلی الله علیه وسلم په جهاد کښې شرکت په اخلاص سره کوی د هغه تابعداری او کړئے په دے ایت کښې په اتباع د رسول صلی الله علیه وسلم ډیر تاکیدات دی اول حرف لام،

هٰذَا مَا وَعَدَنَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَصَدَقَ اللّٰهُ

دا هغه څیز دے چه وعده کړیده مونږ سره الله تعالیٰ او رسول د هغهٔ او رشتیا ویلی دی الله تعالیٰ

دویم قدء دریم کان چه دلته په دوام باندے دلالت کوی څلورم لفظ د فی چه داخل دے په رسول باندے یعنی فی اُمُوْرِهٖ وَنَهْیِهٖ نه دے ویلے اشاره ده چه د نبی په ذات کښ (یعنی د هغه صورت او سیرت ته، او امرونو او نواهی کول یا پریخودل، رفتار گفتار هر څه ته شامل دے) ستاسو دپاره تابعداری کول دی. پنځم لفظ د رَسُوْلِ اللّٰهِ دے یعنی دهٔ د الله تعالیٰ پیغام راوړے دے نو د دهٔ اقتداء دا د الله تعالیٰ د حکم اطاعت دے. شپږم لفظ د اُسْوَةٌ دے. دا لفظ ځکه خاص دے په هغه اقتداء پورے چه په هغے کښ برابری وی یعنی پوره تابعداری کوی او په هغے کښ د زړه علاج او تسلی وی ځکه چه اسی کښ معنیٰ د علاج او د دواهم پرته ده یعنی د نبی صلی الله علیه وسلم پوره اقتدا لازم ده او دارنګ د هغهٔ اقتداء کول د زړونو دوائی او تسلی هم ده اووم لفظ د حَسَنَةٌ، یعنی فائده منده په دنیا او اخرت اتم لفظ د لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ دا بدل دے د لَكُمْ نه یعنی په چا کښ چه دا صفتونه وی نو هغهٔ په ضرور اقتداء د نبی صلی الله علیه وسلم کوی یعنی په ایمان بالله والیوم الاخر او په ټولو عبادتونو کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم اقتداء به کوی یا دا (لِمَنْ كَانَ) متعلق دے په حَسَنَةٌ پورے یعنی فائده او ثواب د اقتداء د هغه چا دپاره ده چه عقیده د هغهٔ په الله تعالیٰ او اخرت باندے وی. يَرْجُوا په معنیٰ د یرے او په معنیٰ د عقیدے او د یقین دے اُمید نه دے مراد ځکه چه صرف په امید سره درجه د ایمان نه حاصلیږی. نهم وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ۔ لسم ذِكْرُ اللّٰهِ كَثِيْرًا، او مراد د ذکر نه تمام عبادات دی ځکه چه ذکر د ټولو عبادتونو نه افضل عبادت دے. د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړے شو چه کوم بنده افضل او اوچت درجے والا دے په نیزد د الله تعالیٰ په ورځ د قیامت، هغهٔ اوفرمائیل" چه ذکر کوونکی د الله تعالیٰ نارینه او زنانه"، اُوویلے شو چه یا رسول الله د غازی فی سبیل الله نه هم غوره دی هغهٔ جواب اوکړو" که غازی په خپله توره باندے مشرکان او کافران دا سے اُووهی چه د هغه توره ماته شی او د وینو نه ککړه شی بیا هم ذکر کوونکے د هغهٔ نه افضل دے" (مشکوٰة ص۲۱۵)

او كَثِيْرًا د دے نه مراد ذکر دے په شرعی شرطونو سره چه په طریقه د اخلاص او په تابعدارئ د سنت سره او سرهٔ د فهم د معنے سره وی دا سے ذکر اګرچه لګ وی لیکن د الله تعالیٰ په نیز ډیر دے نو کوم ذکر چه د بدعت په طریقے سره وی لکه په چغو سره ذکر کول او د ځان نه تخصیص کول رباتے په بل مخ)

وَرَسُوْلُهٗ وَمَا زَادَهُمْ اِلَّآ اِيْمَانًا وَّتَسْلِيْمًا ﴿۲۲﴾

او رسول دَ هغه او نه زیاتوی دوی لره مګر ایمان او تابعداری کول.

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ

بعض دَ مؤمنانو نه سړی دی چه پوره کړے ده هغه وعده چه کړے وه الله تعالیٰ

عَلَيْهِ ۚ فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ وَمِنْهُمْ

سره تو بعض دَ دوی نه هغه دی چه پوره ئے کړو حاجت خپل او بعض هغه دی

دَ وخت او دَ حال دَ هغے یا ذکر مفرد (یعنی صرف الله الله) یا چه په معنے باندے نه پوهیږی نو دا ذکر غیر مقبول دے لکه چه بعض تشریح تفسیر روح المعانی کښ دَ ۲۱ ایت دَ لاندے کړے ده. تو حاصل دَ ایت دَ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوْا اه نه دا دے چه څوک ایمان په الله تعالیٰ او په ورځ دَ اخرت لری او عمل دَ الله تعالیٰ دَپاره کوی نو دَ دے رسول تابعداری او اقتداء دے کوی. او دَ ذکر په لفظ سره ئے دَ دے وجے نه راوړو چه څوک ذاکر وی نو دَ هغهٔ زړهٔ بیدار وی نو دَ دے وجے نه تابعداریٔ دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته تیار وی او څوک چه غافل وی نو هغهٔ په تابعدارے کښ سست وی. په سورة ممتحنه ۴ کښ اقتداء دَ ابراهیم علیه السّلام او دَ هغهٔ دَ ملګرو صرف په براءت دَ مشرکانو کښ ذکر کړے ده ، او سورة ممتحنه ۶ کښ ذکر الله کثیراً نه دے ذکر کړے ځکه چه دا امت دَ ابراهیم علیه السّلام په اقتداء دَ ټولو اعمالو باندے مکلف نه دے.

۲۲. دا ذکر دَ حال او دَ تثبت دَ مؤمنانو دے په مقابله دَ حال دَ منافقانو کښ او په دے کښ دَ مؤمنانو درے صفات دی. هٰذَا اشاره ده هغه حال ته چه په ۱۰ کښ تیر شویدے او مراد دَ دے نه مصیبتونه راتلل دی په مؤمنانو باندے دَپاره دَ ابتلاء لکه سورة بقره ۲۱۴ سورة العمران ۱۴۲ سورة عنکبوت ۲ کښ.

وَصَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ دا په مقابله دَ قول دَ منافقانو کښ دے چه په ۱۲ کښ تیر شوے دے. وَمَا زَادَهُمْ اه په دے کښ اشاره ده چه دا قول دَ مؤمنانو صرف دَ ژبے نه نه دے په شان دَ منافقانو بلکه په زړه او په اندامونو باندے دَ هغے اثر موجود دے. او ایت دلیل دے چه په ذکر کولو سره ایمان کښ زیاتے او مضبوطوالے راځی.

مَّنْ يَّنْتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ لِّيَجْزِيَ اللّٰهُ

چه انتظار کوی او دوی نه دے بدل کړے (دین د الله تعالیٰ) په هیڅ بدلولو. د دے د پاره چه بدله ورکړی الله تعالیٰ

الصّٰدِقِيْنَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ

رشتینو خلقو ته په سبب د رشتیاؤ د هغوی عذاب ورکړی منافقانو ته

اِنْ شَآءَ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

که چرے اوغواړی یا توفیق د توبے په ورکړی هغوی ته یقینًا الله تعالیٰ دے

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۲۴﴾ وَرَدَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

بخنه کوونکے رحم کوونکے . او واپس کړل الله تعالیٰ کافرانو لره

سـ۲۳ : دا د مؤمنانو څلور صفات دی اولًا دا صفتونه د صحابه کرامو دی بیا چه څوک د هغوی تابعدار وی. رِجَالٌ په دے لفظ کښ د هغوی کمال رجولیت ته اشاره ده. صَدَقُوْا مراد د دے کلک کیدل په وعده او په هیڅ باندے وفاء کول دی چه هغه وعده د قتال کولو فی سبیل الله ده او نورو ټولو احکامو شرعیو ته شامل ده. فَمِنْهُمْ مَّنْ قَضٰى نَحْبَهٗ، نحب نذر ته وائی او مراد تری نه مرګ د شهادت دے او موت ته ئے د دے وجے نه نذر اُویل چه هغه صحابه کرامو دا شهادت په ځان باندے نذر منلے وو یا د دے وجے نه چه مرګ په هر نفس باندے داسے لازم دے لکه نذر چه لازم وی - یا دا چه نحب اجل د موت ته ویلے کیږی یا قضٰی نحبه نه مراد کوشش صرف کول دی د عهد په وفا کولو کښ او مصداق د دے په صحابه کرامو کښ حمزه او مصعب او انس بن نضر رضی الله عنهم دی او نور شهیدانو د بدر او اُحد ته هم شامل دے. وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّنْتَظِرُ مراد دا چه دوی کوشش کوی د مرګ د شهادت په حصول کښ لکه باقی صحابه کرام شول. وَمَا بَدَّلُوْا تَبْدِيْلًا دا جمله عامه ده عهد او ټول دین د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته شامله ده - معلومه شوه چه کوم صحابه کرام وو نو هغوی د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په دین کښ هیڅ بدعت نه دے جوړ کړے او دین د هغه ئے نه دے پریخودے او کوم چه مرتد دی نو هغه (په تعریف شرعی) کښ صحابه نه دی.

سـ۲۴ : دا متعلق دے په څکښ ذکر کړے شوے عملونو د صحابه کرامو پورے او خصوصًا وَمَا بَدَّلُوْا پورے او غوره دا ده چه لام د پاره د عاقبت دے او بِصِدْقِهِمْ کښ سبب د جزا ذکر کړے دے او صدق نه مراد تیر شوی اعمال د صحابه کرامو دی. او مُنٰفِقِيْنَ نه مراد هغه څوک دی چه د ذکر کړے شوے صفاتو د صحابه نه خلاف وی. او مراد د يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ نه توفیق دے د توبے کولو د منافقت نه.

يَغِيظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ

سره د غصې د هغوی نه چه نه ئې وه حاصل کړې هيڅ فائده او بس کړه الله تعالی مؤمنانو لره

الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا ﴿٢٥﴾ وَأَنزَلَ

د جنګ کولو نه او الله تعالی دے قوت والا زور اور - او راکوز ئې کړل

الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ

هغه کسان چه مدد ئې د هغوی سره کړے وو د کتابيانو نه

مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ

د قلعګانو د هغوی نه او واچوؤ په زړونو د هغوی کښې

الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾

هيبت يو ډله تاسو وژله او قيدا کوله تاسو بله ډله.

۲۵:- دا بيان د جزاء دنيوی دے مؤمنانو لره يعنې د دوی د صدق د وجې نه احزاب د کافرانو بغير د مقصده واپس شول. خَيْرًا يعنې خير د دنيا او د آخرت ئې حاصل نه کړو. وَكَفَى اللَّهُ الْقِتَالَ يعنې سيلئ او ملائک په کافرانو باندے راغلل نو هغوی ئې اوزغلول او قتال کولو د مؤمنانو ته څه حاجت پاتې نشو.

۲۶:- دا هم په جزا کښې داخل دے چه الله تعالی د مؤمنانو سره امداد اوکړو په غزوه د بنی قريظه کښې هرکله چه بنو قريظه د نبی صلی الله عليه وسلم سره لوظ مات کړو او د نورو کافرانو سره ئې په غزوهٔ خندق کښې ملګرتيا اوکړه، نو نبی صلی الله عليه وسلم ته حکم راغے چه د بنو قريظه سره جنګ د پاره لاړ شه هغوی د ډيرے نه په خپلو قلعګانو کښې پټ شول او مؤمنانو د دوی پنځويش ورځے محاصره اوکړه آخری دوی تنګ شول او رضا شول په فيصله د سعد بن معاذ رضی الله عنه باندے نو هغه فيصله اوکړه چه ځوانان دے قتل کړے شی، او بچی او ښځے دے قيد کړے شی او نبی صلی الله عليه وسلم د دهٔ د فيصلے تائيد اوکړو نو په هغه فيصله باندے عمل اوکړے شو. فَرِيقًا تَقْتُلُونَ د دے فريق انتخاب ئې مخکښې اوکړو نو دوی خاص کړے شو د پاره د قتل کولو، د دے وجې نه فَرِيقًا ئې دلته مخکښې ذکر کړو او باقی پاتے شول د پاره د قيد کولو نو په هغې کښې تقديم د فَرِيقًا ته ضرورت نه وو.

وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ

او دَرکړے دہ تاسو تہ زمکہ دَ هغوی او کورونو دَ هغوی او مالونو دَ هغوی

وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ

(او دریہ کړی) داسے زمکہ چہ تاسو قدم نہ دے ایخودلے پہ هغے باندے او اللّٰہ تعالیٰ دے پہ هر

شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ

څیز باندے قدرت والا۔ اے نبی اُوایہ خپلو بیبیانو تہ

إِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا

کہ چرے تاسو غواړئے ژوند دنیوی او ښائیست دَ هغے

فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا

نو راشئے چہ سامان درکړم او رخصت کړم تاسو لرہ پہ رخصتے

جَمِيلًا ﴿٢٨﴾ وَإِن كُنتُنَّ تُرِدْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

ښائستہ سرہ۔ او کہ چرے تاسو غواړئے اللّٰہ تعالیٰ لرہ او رسول دَ هغہ لرہ

۲۷:۔ دا هم پہ جزا کښ داخل دے۔ یعنی تیرشوی ایت کښ غلبہ پہ نفسونو دَ کتابیانو کافرانو باندے ذکر کړے شوہ نو پہ دے ایت کښ غلبہ دَ هغوی پہ مالونو باندے ذکر کوی۔ او مراد دَ دے نہ غنیمتونہ دَ بنی قریظہ دی۔ أَرْضَهُمْ مراد دَ دے نہ باغونہ او پټی دی۔ وَأَمْوَالَهُمْ مراد دے نہ دَ دوی خاروی نقد او وسلے او سامانونہ وغیرہ دی وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا مراد دَ دے نہ وعدہ دہ دَ غنائمو دَ خیبر یا ټولو فتحتونو دَ مسلمانانو چہ تر قیامتہ پورے وی او داسے پہ سورۃ فتح ۲۰ کښ هم دی۔

۲۸:۔ دَ دے ایت نہ تر ۳۴ پورے دریم باب دے پہ دے کښ درے خطابات نبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم تہ ذکر کوی ۲۸ ۳۷ ۳۸ او څلور خطابات بیبیانو دَ رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیہ وسلم تہ دَ ۳۱ تر ۳۴ پورے دوہ خطابات عامو مؤمنانو تہ پہ ۳۶ ۴۱ کښ او ذکر دَ بشارت دے پہ ذکر دَ لس صفتونو سرہ پہ ۳۵ کښ۔

پہ دے (۲۸) کښ تهم خطاب دے نبی صلی اللّٰہ علیہ وسلم تہ۔ او مراد دَ دے نہ دا دے کہ بیبیانے دَ دعوت دَ دین پہ کار کښ مانع جوړیګی نو دَ هغوی پریخودل ضروری دی لیکن دعوت دَ حق بہ نہ پریخودلے کیږی۔ او ربط دا دے چہ هرکلہ دَ دشمنانو حال ذکر کړے شو چہ هغوی دَ دعوت حق پہ لار کښ ریاتے پہ بل مخ)

وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْمُحْسِنٰتِ

او کور	روستنی	نو یقینا الله تعالیٰ تیار کړیدی خاشته عمل کوونکو له

مقابله او مخالفت کوونکی وو نو اوس حال دَ قریبی ملګرو (بیبیانو) ذکر کوی او دیته ایت دَ تخییر ویلی کیږی یعنی ښځی ته اختیار ورکول چه دَ خاوند نه جدائی غواړی او که نه غواړی ستا اختیار دی نو په دی کښ قول صحیح دا دی چه په دی سره هیڅ طلاق نه واقع کیږی هاں که په جواب کښ اُوائی چه ما ځان غوره کړی یعنی جدائی م خوښه ده نو په دی کښ اختلاف دی دَ سلف صالحینو چه څه رنګ طلاق واقع کیږی۔ او دَ دی ایت دَ نزول سبب دا وو چه هر کله نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ زینب رضی الله عنها سره نکاح اوکړو دَ پاره دَ دی چه رسم دَ جاهلیت ختم شی په باره دَ تحریم دَ ښځی دَ متبنیٰ کښ نو نوری بیبیانی دَ غیرت دَ پښتوب دَ وجی نه (چه دا طبعی امر دی) نبی صلّی الله علیه وسلّم ته راجمع شوی او دَ ډیری نفقی مطالبه ئی شورو کړله نو نبی صلّی الله علیه وسلّم ترینه خفه شو او اوویل ئی چه څه په یوه میاشت تاسو ته نه نزدی کیږم او په دغه ورځو کښ نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ سوری نه راغورځیدلی وو نو اړخ ئی زخمی شو یوو او خپه ئی او ډیر لی وه نو په بالاخانه کښ ځانله اوسیدلو، هر کله چه دا ایت دَ تخییر نازل شو او میاشت دَ یو کم دیرشو ورځو پوره شوه نو نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ بالاخانی نه راکوز شو او دا ایاتونه ئی بیبیانو ته پیش کړل نو هغوی په جواب کښ اُوویل چه مونږ الله تعالیٰ او رسول او اخرت خوخوؤ دَ دی په باره کښ احادیث صحیحه راغلی دی۔

لِّاَزْوَاجِكَ دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم بیبیانو تعبیر ئی " په ازواج سره کړی دی دا دلیل دی چه هغوی دَ هغهٔ سره پوره موافق وی او په دغه وخت کښ دَ هغهٔ نهه بیبیانی وی پنځه قریشی وی ۱ عائشه لور دَ ابوبکر رضی الله عنهما ۲ حفصه لور دَ عمر رضی الله عنهما۔ ۳ ام حبیبه لور دَ ابو سفیان رضی الله عنهما ۴ ام سلمه رضی الله عنها لور دَ ابو امیه ۵ سوده رضی الله عنها لور دَ زمعه۔ او څلور غیر قریشی وی ۱ زینب رضی الله عنها لور دَ جحش دَ اسد قبیلی ۲ میمونه رضی الله عنها لور دَ حارث دَ هلال قبیلی ۳ صفیه رضی الله عنها لور دَ حی بن اخطب دَ خیبر کتابیه ۴ جویریه رضی الله عنها لور دَ حارث دَ بنو مصطلق قبیلی۔ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا مراد دَ دی نه ترقی دَ دُنیا ده په اعتبار دَ ډیر نفقی او مالونو سره۔ وَزِيْنَتَهَا مراد دَ دی نه خائسته لباس او کالی وغیره دی۔ فَتَعَالَيْنَ لفظ دَ تَعَالَ په اصل کښ دلالت کوی چه دَ بری نه کوز طرف ته راپیلی کیږی یا دَ کوز نه بر طرف ته راپیلی کیږی او اکثر په معنیٰ دَ صرف حاضریدلو سره

مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ مَنْ يَّاْتِ

چه تاسو نه ثواب لوئ ۔ اے بیبیانو د نبي (صلی الله علیه وسلم) چاچه راتلل اوکړل

مِنْكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُّضٰعَفْ لَهَا الْعَذَابُ

ستاسو نه په بدئ ښکاره سره دوچندہ په ورکیدے شی ھغے ته عذاب

ضِعْفَيْنِ ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿۳۰﴾

دوچنده او دے دا کار په الله تعالیٰ باندے آسان ۔

استعمالیږی۔ اُمَتِّعْكُنَّ مراد ترینه متعه دَ مطلقاتو ده چه په سورة بقره ۲۳۶ کښ ذکر ده۔ وَاُسَرِّحْكُنَّ تسریح په اصل کښ آزاد پریخودلو ته وائی لکه څاروی صبائي وخت صحرا ته پریخودل دَ څرے دلو دَپاره مراد ترینه طلاق دے بغیر دَ رجوع کولونه۔ ۲۹:۔ دا دَ تخییر دوهم طرف دے۔ تُرِدْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مراد دَ دے نه رضا او طاعت کول دَ دے دواړو دی۔ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ مراد دَ دے نه جنت دے چه په طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره حاصلیګی۔ لِلْمُحْسِنٰتِ مراد دَ دے نه دوام او همیشه پاتے کیدل دی په دغه دوهمه اراده باندے تر مرګه پورے۔ مِنْكُنَّ مِنْ بیانیه دے مراد ترینه ټولے بیبیانے دَ پیغمبر دی لیکن دَ دوی دَ تخویف دَپاره ئے مِنْ ذکر کړے دے او هرکله چه دا حکم دَ امت نورو بیبیانو ته هم شامل دے او دَ نبي صلی الله علیه وسلم بیبیانے دَ هغوی نه بعض دی نو دَ دے وجے نه ئے هم مِنْ ذکر کړے دے۔

۳۰:۔ دا خطاب دے بیبیانو دَ نبي صلی الله علیه وسلم ته (او ضمنًا خطاب دے امت ته) هرکله چه دوی الله تعالیٰ او رسول صلی الله علیه وسلم او جنت لره غوره کړو نو اوس دوی ته هغه امور ذکر کوی چه په هغے باندے دَ عمل کولو په سبب سره رضا دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او جنت حاصلیږی۔ په دے آیت کښ تاکید دے په اجتناب دَ هر فحشاء سره که قول وی او که عمل وی نافرمانی دَ خاوند، بد اخلاقی، دنیا پرستی وغیره۔ مُبَيِّنَةٍ یعنی دَ هغے ناکاره والے شرعًا او عقلًا دواړه ښکاره وی هیڅ احتمال دَ جواز په کښ نه وی۔ ضِعْفَيْنِ لفظ دَ ضعف هم دلالت کوی په دوچنده کیدلو باندے لیکن تثنیه دَ تکرار دَ تاکید دَپاره ده۔ اشاره ده چه دَ چا مرتبه اوچته وی نو دَ هغه جرم هم اوچت شمیرکیږی او عتاب او عذاب ئے هم زیات وی۔ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا په دے کښ رد دے په بل مخ)

وَمَنْ يَّقْنُتْ مِنْكُنَّ لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

او چاچه تابعداري كوله ستاسو نه د الله تعالیٰ او د رسول د هغه

وَتَعْمَلْ صَالِحًا نُّؤْتِهَآ اَجْرَهَا مَرَّتَيْنِ ۙ

او عمل ئې كوو د سنت موافق نو وركوو مونږ هغې ته ثواب د هغې دوچنده

وَاَعْتَدْنَا لَهَا رِزْقًا كَرِيْمًا ﴿۳۱﴾ يٰنِسَآءَ النَّبِيِّ

او تيار كړې ده مونږ هغې لره روزي عزت والا ۔ اے بيبيانو د نبي

لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ اِنِ اتَّقَيْتُنَّ

نه يئ تاسو پشان د يو د نورو زنانوؤ نه كه چرے تاسو تقوىٰ لرئ

فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِيْ

نو جوتيل د خبرے مه كوئ نو طمع به اوكړي هغه څوک

اشاره ده چه نسبت ئې دے بيبيانو نبي صلى الله عليه وسلّم ته په وخت د ګناه كولو كښې بچ كوونكے د عذاب نه نه دے صحيح حديث كښې راغلى دى "من لم يسرع به عمله لم يسرع به نسبه" يعنى هركله چه چل عمل كښې كوتاهي وى نو په نسب سره كمال نه حاصليږي.

۳۱:۔ د زيادت د عذاب نه روسنو زيادت د ثواب د هغوى ذكر كوى ليكن په اعتبار د عمل صالح سره نه په نسب سره او دا بشارت دے۔ يَقْنُتْ مراد د دے نه اطاعت قلبيه دے او درجه د نيت ده۔ وَتَعْمَلْ نه مراد اعمال ظاهريه دى په شرط د صالحيت يعنى په اتباع د سنّت سره۔

فائده:۔ په مقام د اجر كښې نسبت الله تعالیٰ ته په نُؤْتِهَا كښې او په مقام د عذاب كښې مجهول ذكر كول په يضاعف سره دليل دے چه رحمت د الله تعالیٰ غالب دے په غضب باندے۔

رِزْقًا كَرِيْمًا، مراد د دے نه رزق د جنّت دے په نيز د اكثرو مفسرينو ځكه چه مراد د كريم نه بے كړاوه او فائدے والا چه هيڅ ضرر او نقصان پكښې نه وى، او دا سے رزق صرف په جنّت كښې به وى۔ او بقاعى او خطيب شربينى رزق د دُنيا او آخرت دواړه مراد كړيدى او مراد د كريم نه بركت والا دے، او د "يرزقه من حيث لا يحتسب" په طريقه باندے دے۔

فِىْ قَلْبِهٖ مَرَضٌ وَّقُلْنَ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ﴿۳۲﴾

په زړه د هغه کښ مرض دے او دائے وینا د شرع موافق .

وَقَرْنَ فِىْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ

او اوسئے په کورنو خپلو کښ او مه ښکاره کوئے ډول سنګار

۳۲. داد ویم خطاب دے بیبیانو ته او په دے کښ بیان دَ ادب دَ وینا کولو او دَ خبرو کولو دے. لَسْتُنَّ كَاَحَدٍ مِّنَ النِّسَآءِ، دا تفریع ده په تیرشوی خطاب باندے چه هرکله په عذاب او په ثواب کښ فرق ثابت شو نو معلومه شوه چه په حال او مرتبه کښ فرق دے. او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے په معنیٰ دَ دے کښ چه " نه دے قدر ستاسو په نیز زما پشان دَ قدر دَ نورو زنانو " ستاسو مرتبه او ثواب په نیز زما دَ ټولو نه زیات دے. اَحَدٍ لفظ دَ احد یئے دَ دے وجے نه ذکر کړو، چه دا لفظ شامل دے یو، دوه او جماعت ته او مذکر او مؤنث ته یعنی نه یئے تاسو پشان دَ هیڅ یو زنانه او نه دَ جماعت دَ زنانو پشان په مرتبه او عزت کښ. لیکن شرط دَ فضیلت نسبت نه دے بلکه تقویٰ دَ دَ دے وجے نه یئے اِنِ اتَّقَيْتُنَّ ذکر کړو او مراد دَ تقویٰ نه په دے تیر شوے دوه آیاتونو باندے عمل کول دی. فَلَا تَخْضَعْنَ دا تفریع ده دَ لوے شان دَ دوی چه مخکښ بیان کړے شو یعنی په وینا کښ نازو نزاکت خوږوالے مه پیدا کوئے په داسے طریقه چه دَ هغے نه دَ مخاطب (فاسق) سړی په زړه کښ بد اثر پیدا شی. فَيَطْمَعَ تعبیر په طمع سره یئے دَ دے وجے نه او کړو چه په اصل کښ دَ بیبیانو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ طرف نه دَ دے خواهش پیدا کولو هیڅ سبب نیشته. مَرَضٌ مراد دَ دے نه فسق وفجور او میلان دَ سړی دَ ښځو سره خبرے کول او شوق دَ مجالست دَ هغوی. قَوْلًا مَّعْرُوْفًا په دے کښ اشاره ده چه دَ مخکښ نهی مطلب دا نه دے چه بد اخلاقی او بخل او کړئے بلکه داسے وینا کوئے چه په هغے سره مقصد دینی یا دنیوی معلوم شی او نور بد آثار ترینه پیدا نشی. او آیت کښ دا هم داخل ده چه منافقانو خلقو به دَ بیبیانو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه تپوس نه کول چه نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ زینب سره نکاح ولے کوی (دا خو دَ دوی دَ رواج نه خلاف وه) نو بیبیانو ته ادب او ښودلے شو چه داسے کوزه خبره او نکړئے چه دَ منافق په زړه کښ دا طمع پیدا شی چه دا بیبیانے هم دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه مخالف دی یعنی په خبرو کښ دَ نبی دَ عمل نه هیڅ خفګان او مخالفت مه ښکاره کوئے بلکه قول معروف او کړئے یعنی داسے اُوائے چه نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے هیڅ اعتراض نیشته هغهٔ هیڅ کار دَ الله تعالیٰ دَ حکم نه بغیر نه کوی.

الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَأَقِمْنَ الصَّلَوٰةَ وَآتِينَ
پښان د جاهلیت زوړ او پابندي کوئ د مونځ او ورکوئ
الزَّكَوٰةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ
زکوٰة او تابعداري کوئ د الله تعالیٰ او د رسول د هغه یقیناً غواړي الله تعالیٰ
لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ
چه لرې کړي ستاسو نه پلیتي اے کورنۍ د نبي صلی الله علیه وسلم او پاک کړي تاسو
تَطْهِيرًا ﴿۳۳﴾ وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَىٰ فِي بُيُوتِكُنَّ
په پوره پاک والی سره. او یاد وئ هغه چه لوستلے کیږي په کورونو ستاسو کښ

۳۳:- دا پاس خطاب دے بیبیانو ته، مخکښ قولي اداب ذکر وو اوس عملي اداب ذکر کوي. د قَرْنَ په دے لفظ کښ دوه قراءتونه دي (زبر د قاف او زور د قاف) چه په زیر سره وي نو خوره دا ده چه د وقار نه اغستے شوے دے او معنیٰ دا ده چه وقار او اطمینان کوئ په خپلو کورونو کښ اگرچه دا هم جائز ده چه د قرار نه واغستلے شي. او چه په زور سره وي نو د قرار نه اغستلے شوے دے چه په اصل کښ اِقْرَرْنَ وُو زور د اولنی ر نقل شو او قاف ته ورکړے شو او د اجتماع ساکنین د وجے نه یو ر حذف شوه او همزه د عدم حاجت د وجے نه هم حذف شو نو قَرْنَ پاتے شو یعنی قرار او نیسئ په خپلو کورونو کښ، ټینګ شئ په کورونو کښ بغیر د حاجت شرعي د کور نه بهر مه اوځئ لکه چه حدیث د سوده رضی الله عنها کښ راغلے دي چه هغه نفلي حج او عمرے کپاره هم د کور نه وتلے نه وه او ویل ئے چه مونږ ته الله تعالیٰ فرمائیلے دي (و قرن في بیوتکن) - وَلَا تَبَرَّجْنَ تبرج معنیٰ د خپل زیب و زینت او کالي ښکاره کول او په گفتار او رفتار کښ ناز ښکاره کول دي. الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ، د دے نه مراد یو خاص زمانه نه ده بلکه د اسلام نه روانده په هره زمانه کښ چه بے دیني تیره شوے ده هغے ته جاهلیت اولیٰ ویلے کیږي. او د اولیٰ په مقابله کښ په حالت د اسلام کښ د جاهلیت طریقے جوړول دا دویم جاهلیت دے. یا دلته اولیٰ دا سے لفظ دے چه مقابل ته غواړي عرب کله اولیٰ صرف زوړ ته وائي. او تَبَرُّج د جاهلیت اولیٰ دا وُو چه زنانه به سر او مخ ښکاره کړے وُو او بازارونو کښ او د سړو په روانده به گرځیدله چا به لاسونه او مخ هم ښکاره کړي وے او د لارے په مینځ کښ به روانے وے تاریخو ته به ئے لار نه پریښودله لوپټه به ئے نه اچوله بلکه ئے اوگو یا ننا ے

مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ وَالْحِكْمَةِ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ

د آياتونو د الله تعالى او حديث د نبي نه يقينا الله تعالى

ــه اوېزانه کړے وه او چه بازار ته ګرځي ته په ټلله نو ځان په يې ښائسته کړو نو افسوس دے په ټن مسلمانانو باندے چه دا ټول کارونه د جاهليت يې شروع کړے دي بلکه د هغې نه زيات شوے دي او ديته ګناه نه ويلے کيږي (روا الله المستعان و إلى المشتكى). وَاَقِمْنَ الصَّلٰوةَ هر کله چه د ناکاره اعمالو نه منع اوکړه نو پس په ښائسته اعمالو سره امر ورکوي او د دے نه معلومه شوه چه د زنانو د مونځونو مسجد ته نه تګ رونه دي د دے وجه د قرن في بيوتكن نه روستو يې ذکر کړو.

وَاٰتِيْنَ الزَّكٰوةَ په دے کښې بشارت دے چه الله تعالى به په تاسو باندے مالي وسعت راولي نو زکوة به درکوئے او اکثر مال د زنانه د هغې زيورات وي نو معلومه شوه چه د هغې په کالو کښې زکوة فرض دے. وَاَطِعْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ دا تعميم بعد التخصيص دے يعني ټولو اوامرو باندے عمل کول او د ټولو منهياتو نه ځان ګيدالو ته شامل دے او دا رنګ اشاره ده چه کوم کښې بيان کړے شوے عملونو کښې اطاعت د الله تعالى او د رسول شرط دے. اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ په دے کښې د تير شوے ذکر کړے شوؤ عملونو فائدے بيانوي او د اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ مفعول پټ دے (يعني الحمل منكم بهذه الاحكام) يعني غواړي الله تعالى ستاسو نه عمل کول په تير شوے احکامو باندے. لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ دا لفظ شامل دے باطلے عقيدے او اعمالو او اخلاقو د فسق و فجور او طريقے د منافقت ته هم ځکه چه منافقانو ته يې اِنَّهُمْ رِجْسٌ توبه سوره کښې ويلے دي او رجس عذابونو د دنيا او اخرت ته هم شامل دے. اَهْلَ الْبَيْتِ د لغت په لحاظ سره د دے معنى ده لائق د ځپے تيرولو نو اصل مصداق د دے ښځه (زوجه) ده لکه سورة هود ۷۳ کښې زوجه د ابراهيم عليه السلام مراد ده او دلته هم اول صرف بيبيانو د نبي صلى الله عليه وسلم ته خطابات ذکر شويدي نو معلومه شوه چه اهل بيت نه اول بيبيانے مراد دي بيا روستو اولاد وغيره ته شامل دے، ځکه چه دويمه معنى د اهل بيت دا ده چه کور ته ډرا تلوحق لري او دا صريح رد دے په شيعه ګانو باندے چه هغوي بيبيانے د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اهل بيت نه خارج ګڼړي او دا د دوي جهل دے هاں که رسول الله صلى الله عليه وسلم، حسن او حسين او فاطمه او على رضي الله عنهم ته اهل البيت ويلے دي نو په دے کښې اشاره وه ديته چه لفظ د اهل بيت صرف بيبيانو پورے مه خاص کوئے. وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيْرًا کښې يې سلبي فائده ذکر کړه او دا ثبوتي فائده ده يعني په دغه احکامو باندے عمل کول دوه (پاتے په بل مخ)

لَطِيْفًا خَبِيْرًا ﴿۳۴﴾ اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمٰتِ

باریک خیژونه وېښې او خبردار دے. یقینًا مسلمانان سړي او مسلمانانې ښځې

وَالْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَالْقٰنِتِيْنَ وَالْقٰنِتٰتِ

او مؤمنان سړي او مؤمنې ښځې او تابعداري کوونکي سړي او تابعداري کوونکې ښځې

وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ وَالصّٰبِرِيْنَ وَالصّٰبِرٰتِ

او رښتیا ویونکي سړي او رښتیا ویونکې ښځې او صبر کوونکي سړي او صبر کوونکې ښځې

وَالْخٰشِعِيْنَ وَالْخٰشِعٰتِ وَالْمُتَصَدِّقِيْنَ وَالْمُتَصَدِّقٰتِ

او عاجزي کوونکي سړي او عاجزي کوونکې ښځې او صدقه ورکوونکي سړي او صدقه ورکوونکې ښځې

وَالصّٰٓىِٕمِيْنَ وَالصّٰٓىِٕمٰتِ وَالْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ

او روژه نیوونکي سړي او روژه نیوونکې ښځې او ښه ساتونکي عورتونو خپلو لره سړي

فائدے دی اوّل دَ رجس او رزائیلو نه پاک کیدل او دویم دَ طهارتِ باطنیه او فضائیلو حاصلیدل او دا لوے فضیلت دے دَ اهلِ بیتو دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم په شرط دَ عمل کولو سره په مخکښنی حکمونو باندے لیکن دَ دے نه مراد عصمت نه دے لکه چه شیعه گان وائي۔

۳۴: دا بل خطاب دے بیبیانو دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم ته او هر کله چه دَ اعمالو بِنا په علم باندے ده او بغیر دَ علم نه عمل غلط وی دَ دے وجے نه په دے کښې دَ علم ترغیب ورکوی. او نصاب دَ علم ئې ذکر کړے دے مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ چه قرآن کریم دے. وَالْحِكْمَةِ مراد ترینه سنّت او حدیث دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم دے وَاذْكُرْنَ مراد دَ دے نه لوستل او درس وتدریس کول دی. فِيْ بُيُوْتِكُنَّ په دے کښې اشاره ده چه درسگاه دَ زنانه دَ پاره دننه کمره او کوټه ده او دا لفظ متعلق دے په واذکرن پورے یا متعلق دے په یتلٰی پورے. لَطِيْفًا خَبِيْرًا په دے کښې اشاره ده چه الله تعالٰی پیژني هغه څوک چه اهل دی دَ زوجیت دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم دَ پاره او کوم اعمال او احکام چه دَ ددی دَ شان سره مناسب دی او چه کوم اسباب دی دَ پاره دَ طهارت او دَ پاکیدلو دَ رجس او پلیتۍ نه۔

فائده: دَ ۳۲ نه تر دے پورے اگرچه خطاب بیبیانو دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم ته دے لیکن په دے احکامو سره زنانه دَ امت هم تبعًا مکلف دی ځکه چه اعلٰی ته حکم وی نو هغه ادنٰی ته هم شامل وی۔

وَالْحٰفِظٰتِ وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ
او نچ ساتونکي زنانه او يادوونکي الله تعالى لره سړي ډېر او يادوونکي زنانه
اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۳۵﴾
تيار کړے دے الله تعالى ددوى دپاره بخښش او ثواب لوے.

۳۵. په دے ايت کښ بشارت دے په جمع کولو د لس صفاتو خاوندانو سره او هر کله چه تير شوے ايا تو کښ احوال د بيبيانو د نبي صلى الله عليه وسلم ذکر کړو او هغوى ته ئے خاص بشارت ذکر کړو نو په دے ايت کښ د عامو تاريو او زنانو صفات او بشارت ذکر کوى او په دے کښ اشاره ده چه دا صفتونه په بيبيانو د نبي صلى الله عليه وسلم کښ هم موجود وو. اول صفت اسلام يعنى هغه تابعه اوزنانه چه په تابعدارئ د الله تعالى او د رسول الله صلى الله عليه وسلم کښ عقيدةً او قولاً او عملاً پوره داخل وى. دويم صفت ايمان هر کله چه اسلام کله صرف ظاهرى انقياد ته ويلے کيږى نو په دے صفت سره ئے واضحه کړه چه انقياد باطنى يکښ پوره شته دے نو معلومه شوه چه په دے ايت کښ اسلام خاص دے او ايمان عام دے ځکه چه ايمان سره کله عمل وى او کله نه وى او اسلام سره په شرعى معنىٰ کښ ضرور ايمان قلبي وى او دا مغايرت د خصوص او عموم) د عطف د پاره پوره دے. دريم صفت قنوت دے دلته قنوت په معنىٰ د اخلاص دے يعنى کله په عمل يا دعوىٰ د ايمان کښ اخلاص نه وى نو دا صفت ئے د دے وجے نه ذکر کړو. څلورم صفت صدق دے هر کله چه قنوت کله صرف طاعت ته ويلے کيږى اګر چه په دروغو سره وى يا سکوت ته ويلے کيږى نو په صدق سره ئے ښکاره کړه چه په طاعت کښ صدق ملګرے دے. او سکوت د صدق نه نۀ کوى بلکه د دروغو نه ساکت دے اشاره ده چه دروغ ويل د مسلمان صفت نۀ کيدے. پنځم صفت صبر دے هر کله چه صدق کښ دوام او هميشه والے ضرورى دے او چه رښتيا هميشه ويلے کيږى نو مصيبتونه او تکاليف يکښ راځي نو د هغے د پاره ئے علاج صفت د صبر ذکر کړو. شپږم صفت خشوع ده او تفصيل د هغے په تفسير د سورة مؤمنون کښ ذکر شوے دے هر کله چه صبر بعض وخت د انسان طبيعت وى يا د کمزورئ د وجے نه صبر کوى نو خشوع ئے ذکر کړه يعنى سبب د صبر تواضع ده الله تعالى ته په زړه او اندامونو سره. اووم صفت تصدق کول په مال سره فرضى او نفلى هر کله چه د مالدارئ د وجے انسان د خشوع د صفت نه اکثر خالى وى بلکه تکبر کوى نو د هغے علاج ئے ذکر کړو چه راتے په بل مخ)

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللّٰهُ

او نه دى مناسب مؤمن سړى لره او مؤمنې زنانه لره كله چه فيصله كړيده الله تعالىٰ

وَرَسُوْلُهٗٓ أَمْرًا أَنْ يَّكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ

او رسول دَ هغه دَيو خيز دا خبره چه ري دِ دوى لره خوښه خپله

تصدّق په مال سره سبب او دليل دَ خشوع دے. اتم صفت صوم روژے نيول هركله چه تصدّق بالمال كله بغير دَ جذبهٔ ايثار نه وى او كله تصدّق كولو كښ نقصانى برخه وى نو دَ هغے دَ پاره ئے صوم ذكر كړو دَ پاره دَ دے چه ايثار پيدا شى او دَ نفس هيڅ حظ (برخه) رانشى. نهم صفت حفظ الفروج دے هر كله چه مقصد دَ روژے نيولو كسر (ماتول) دَ شهوت دى نو دَ هغے نتيجه ئے ذكر كړه چه خپل ځان دَ بدكارئ نه ساتل بلكه خپل عورتونه دَ بے ځايه ښكاره كولو نه بچ ساتل. لسم صفت ذكرالله دے هركله چه دَ دے اعمالو سبب او باعث او خاص طور باندے دَ حفظ الفروج سبب دَ الله تعالىٰ ذكر كښ مشغوليدل دى نو ځكه په ذكر سره توجه الله تعالىٰ ته او كنټرول دَ اندامونو او دَ زړے او دَ زړه حاصليږى نو دا صفت ئے په اخر كښ ذكر كړو او په ۳۵ ايت كښ دَ ذكر كثير بعض تفسير ذكر كړيشوے

كړے دى چه چا ټول كارونه خپل الله تعالىٰ ته اوسپارل نو هغه په المسلمين كښ داخل دے او چا چه اقرار اوكړو چه الله تعالىٰ زمارب دے او محمّد صلّى الله عليه وسلّم زما رسول او زړهٔ ئے دَ ژبے نه خلاف نه وى نو هغه په المؤمنين كښ داخل دے او چا چه دَ الله تعالىٰ طاعت اوكړو په فرض كښ او نبى صلّى الله عليه وسلّم طاعت ئے اوكړو په سنتو كښ نو هغه په القانتين كښ داخل دے او چا چه خپلے خبرے دَ دروغو نه بچ اوساتلے نو هغه په والصادقين كښ داخل دے او چا چه صبر اوكړو په طاعاتو باندے او په مصيبتونو باندے نو هغه په الصابرين كښ داخل دے او چا چه مونځ كوۀ په داسے طريقه چه خپل ښى طرف ته او كس طرف ته څوك نه پيژنى نو دے په الخاشعين كښ داخل دے او چا چه هره هفته كښ يو درهم خيرات كوۀ نو دے په المتصدقين كښ داخل دے او چا چه په هره مياشت كښ ايام بيض روژے نيولے نو هغه په الصائمين كښ داخل دے او چا چه خپل عورت دَ حرامو نه بچ اوساتلو نو هغه په الحافظين فروجهم كښ داخل دے او چا چه په پنځو مونځونو هميش والے كوۀ نو په الذاكرين كښ داخل دے او دَ بعضے سلفو صالحينو نه نقل ده چه كوم اذكار او دُعاګانے په سنّت سره په مختلفو اوقاتو

أَمْرِهِمْ ۗ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ

په کار د دوی کښی او چا چه خلاف اوکړو د حکم د الله تعالی او د رسول د هغه نه نو یقیناً

ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا ۝٣٦ وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي

ګمراه شو په ګمراهئ ښکاره سره. او کله چه ویل تا هغه چا ته

أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ

چه نعمت کړیدے الله تعالی په هغه باندے او نعمت کړیځ تا په هغه باندے او ساته

عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ

د ځان سره بی بی خپله او ویره کوه د الله تعالی نه او پټه ساتله تا په زړه خپل کښی

کښی ثابت دی په هغے باندے چه څوک همیشګیری کوی نو هغه په الذاکرین الله کثیرا کښی داخل دے.

فائده :- په دے صفتونو کښی درے صفتونه قلبی دی ایمان، قنوت، خشوع، دا عبادات قلبیه دی. او درے عبادات بدنیه ظاهریه دی اسلام (عام دے ټولو عبادتونو ته)، او صبر او صوم، او په دے کښی دوه عبادات لسانیه دی صدق او ذکر. او یو عبادات مالیه دے تصدق کول او یو عبادت د ترک المنکرات دے یعنی حفظ الفروج.
مَّغْفِرَةً، دا دلیل دے چه په دے عباداتو کښی هر عبادت سره ګناهونه بخلے کیږی.
وَأَجْرًا عَظِيمًا دا دلیل دے چه هر یو عبادت سبب د لوے ثواب دے.

۳۶:- په دے آیت کښی خطاب دے ټولو مؤمنانو نارینو او زنانو ته. یعنی د الله تعالی او د رسول د فیصلے او د نص په مقابله کښی خپله یا د بل چا رائے او اختیار مه چلوئ دا عصیان او ګمراهی ښکاره ده. او د مخکښی آیت سره ئے ربط دا دے چه تیر شوی صفات هله حاصلیږی چه د نص د قرآن او حدیث نه خلاف په بله رائے او قول باندے د عمل کولو نه ځان بچ کړیشی. لفظ مؤمن او مؤمنة د پاره د تعمیم د دے حکم دے. إِذَا قَضَى اللَّهُ هغه فیصلو او حکمونو ته شامل دے چه په قرآن کریم کښی دی. وَرَسُولُهُ او فیصلو او حکمونو ته شامل دے چه په سنت صحیحه سره قولاً او عملاً ثابت وی.
أَمْرِهِمْ دا ضمیر راجع دے مؤمن او مؤمنة ته د وجے د عموم د هغے نه ځکه چه نکره په سیاق د نفی کښی واقع ده یا ضمیر راجع دے الله تعالی او رسول ته.
وَمَنْ يَعْصِ دلته د عصیان نه مراد خپل رائے او اختیار مقدم کول دی په نص د قرآن او د سنت باندے. ضَلَالًا مُّبِينًا په مبین کښی اشاره ده (پاتے په بل مخ)

مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ وَتَخْشَى النَّاسَ ۚ وَاللّٰهُ اَحَقُّ

هغه خبره چه الله تعالیٰ ښکاره کوله او ویره کوله تا د خلقو نه او الله تعالیٰ ډیر حقدار دے

اَنْ تَخْشٰىهُ ؕ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا

چه د هغهٔ نه ویره اوکړے نو هرکله چه پوره کړو زید د هغې نه حاجت

زَوَّجْنٰكَهَا لِكَىْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ

نو په نکاح سره موږ درکړه تاته د پاره د دے چه نه وی په مؤمنانو باندے

حَرَجٌ فِىْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ اِذَا قَضَوْا

تنګسیا په باره د نکاح کولو د بیبیانو د متبنیٰ ګانو د دوی کښ هر کله چه پوره کړی دوی

مِنْهُنَّ وَطَرًا ؕ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ مَفْعُوْلًا ﴿۳۷﴾

د هغوی نه حاجت او دے حکم د الله تعالیٰ پوره کړے شوے.

چه د دۀ په ضلال باندے یل دلیل ته حاجت نیشته بلکه عمل په خلاف نص باندے دلیل د دۀ د ګمراهئ دے.

سک۳۷:- داخطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته ځکه چه لفظ د ان تخشاه او زوجنکها کښ خطاب هغهٔ ته دے. ربط د هغښ ایت سره دا دے چه هر کله تابعدارئ د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته ترغیب بیان شو نو په دے ایت کښ د هغهٔ د تابعدارے فائده بیانوی چه هغهٔ د حرج نه بچ کیدال په تابعدارئ د رسم شرکی کښ چه حرمت د نبیٔ د متبنیٰ دے. او په دے ایت کښ د زید بن حارثه بعضے حالات ته اشاره ده هغهٔ دا چه زید بن حارثه په وړوکوالی کښ د مور سره روان وو په سفر باندے نو بدمعاشانو په لاره کښ هغهٔ لره د مور نه په زور سره واخستلو او د عکاظ میلے ته ئے راوستلو او ویل ئے چه دا مریئ دے د خرڅ د پاره نو حکیم بن حزم چه وکیل تجارت وو د خدیجه رضی الله عنها هغهٔ د دوی نه په څلورسوه درهم باندے واخستو او د خدیجه رضی الله عنها سره اوسیدلو بیا چه د نبی صلّی الله علیه وسلّم د خدیجه رضی الله عنها سره نکاح اوشو نو هغې زید نبی صلّی الله علیه وسلّم ته اوبخلو. په دغه زمانه کښ د زید پلار وغیره د هغهٔ په طلب کښ ګرځیدال نو مکے معظمے ته راغلل نو زید ئے د نبی صلّی الله علیه وسلّم سره اومندلو نو د هغهٔ نه ئے طلب کړو هغهٔ اوفرمائیل چه د زید نه تپوس اوکړئ که هغه ستاسو سره په تلله خوښه کړي نو څه ئے نه منع کوم

مَاكَانَ عَلَى النَّبِيِّ مِنْ حَرَجٍ فِيمَا

نه دے دی په نبي صلی الله علیه وسلّم باندے تنګسیا په رسولو ده ده حکم کښې

نو هغهٔ اُویل چه څه د نبی صلّی الله علیه وسلّم په مقابله کښې پلار او رونړه نه خوښوم نو بیا نبی صلّی الله علیه وسلّم هغهٔ ته اُویل چه ماتهٔ آزاد کړے او د هغهٔ وخت د رواج په موافق سره ئے اُویل چه زید زما ځوئے شو یعنی مکبنیٰ ئے تربنه جوړ کړو د هغے نه روستو به دهٔ ته زید بن محمّد (صلّی الله علیه وسلّم) ویلے کیدلو. بیا نبی صلّی الله علیه وسلّم د زید نکاح د زینب بنت جحش رضی الله عنها سره اوتړلو. لیکن د دوی د کورنئ تعلق پوره جوړ رانغے نو زید اوغوښتله چه زهٔ د ے له طلاق ورکوم نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم هغهٔ لره د طلاق ورکولو نه منع کړو.
او رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته په وحی سره معلوم شوے وه چه روستو د طلاق ورکولو د زید ته نبی صلّی الله علیه وسلّم به د د ے سره نکاح کوی. او په نکاح کولو کښې د منافقانو او مشرکانو د طرف نه دا بدنامه وه چه د ځوئے د ښځے سره ئے نکاح اوکړه نو د د ے بدنامے ته نبی صلّی الله علیه وسلّم یریدلو نو هغهٔ ته ئے اُویل چه د ے لره طلاق مه ورکوه. لیکن هغهٔ طلاق ورکړو او عدت ئے تیر شو نو الله تعالیٰ د زینب نکاح د نبی صلّی الله علیه وسلّم سره اوکړلو. أَنْعَمَ اللهُ، په توفیق ورکولو د ایمان او په صحبت د نبی صلّی الله علیه وسلّم. وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ، په آزادولو سره او په ځوئے جوړولو سره. أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ یعنی هغهٔ ستانه مشوره طلب کړه په باره د طلاق د هغے کښې او د زوج نوم زینب رضی الله عنها وو. یعنی اګرچه په نابلدے بوج او تکلیف په وی لیکن د هغے سره ګذاره کوه. وَاتَّقِ اللهَ یعنی د هغے حقوق پوره اداکوه. وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللهُ مُبْدِيهِ کوم څیز چه الله تعالیٰ ښکاره کړو هغهٔ نبی صلّی الله علیه وسلّم په زړهٔ کښې ساتلو او الله تعالیٰ خو دا ښکاره کړه چه هرکله زید طلاق ورکړو زینب رضی الله عنها ته او عدت ئے هم تیر شو نو الله تعالیٰ د هغے نکاح د نبی صلّی الله علیه وسلّم سره اوکړو. نو معلومه شوه چه د نبی صلّی الله علیه وسلّم په زړهٔ کښې داخبره وه د د ے وحے نه چه الله تعالیٰ ورته د مخکښې نه خبر ورکړے وو. وَتَخْشَى النَّاسَ مراد د د ے نه خشیت اعتقادی نه د ے (چه په عقیده د تعظیم او تعبّد سره ویره کوی ځکه دغه خو صرف د الله تعالیٰ نه کیدے شی لکه چه ولم یخش الا الله (توبه) ۱۸ کښې مراد ده) بلکه مراد د خلقو د ملامتیا او د طعنو نه ځان بچ کول دی ځکه چه دلته مفسرین دوه معنے کوی اول دا چه تا حیا کوله د خلقو نه. دویم دا چه ویره کوله تا رټلو په بل مخ)

فَرَضَ اللّٰهُ لَهٗ ؕ سُنَّةَ اللّٰهِ فِى الَّذِيْنَ خَلَوْا

چه فرض کړیدے الله تعالیٰ په دهٔ باندے پشان دَ طریقے دَ الله تعالیٰ په هغه کسانو کښې چه تیر شویدی

دَ ملامتیا دَ خلقو نه۔ او وَتَخْشَى النَّاسَ علت دے دَ امسك علیك دَ پاره چه تا هغهٔ ته ویل چه طلاق مه ورکوه داد دے وجے چه یریدے دَ خلقو دَ طعن نه که تا ورته ویلے وے چه طلاق ورکړه او بیا دِ په نکاح باندے اغستله نو خلقو به ویل چه دا ئے دَ ځان دَ پاره دَ هغهٔ دَ نکاح نه اراده کړله یا علت دے دَ تخفی فی نفسك دَ پاره او بیا ئے هم دغه مطلب دے۔ وَاللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَخْشٰهُ ، تفسیر سراج المنیر کښې ویلے دی چه دَ دے دا مطلب نه دے چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ الله تعالیٰ نه یره نکوله بلکه حدیث صحیح کښې راغلے دی انا اخشاکم لله واتقاکم له بلکه معنیٰ دا ده چه دا سے حالاتو کښې چه یو طرف ته دَ خلقو نه یره کول وو او بل طرف ته دَ الله تعالیٰ نه ویره وی نو په دے کښې به دَ الله تعالیٰ نه یره کول مخکښې وی په یره کولو دَ خلقو باندے۔ (تنبیه) بعض مفسرینو په دے مقام کښې دا سے قصے لیکلے دی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ شان سره نه خائیږی یعنی په زړه دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښې محبت دَ زینب پیدا کیدل او زړه کښې دا تمنا کول چه زید زینب له طلاق ورکړی او زهٔ ئے په نکاح سره واخلم وغیره نو دَ هغے په باره کښې په دَ ایت کښې پخپله تردید موجود دے علیو دا چه اَمْسِكْ عَلَيْكَ ئے ویلے دی نو که دَ نبی دا سے محبت او تمنا وے نو پکار وو چه هغهٔ ته ئے ویلے وے چه طلاق ورکړه۔ دویم مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ که دَ رسول په زړه کښې دا محبت او تمنا دے نو ضرور الله تعالیٰ په هغهٔ ښکاره کړے وے ځکه چه الله تعالیٰ دَ هیڅا نه یره نه کوی۔ دریم زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْلَا اه که دَ هغهٔ محبت وے نو الله تعالیٰ به فرمائیلے وے زَوَّجْنَا لَهَا زِيَّتُكَ تَحِبَّهَا ، (ستا دَ محبت دَ وجے نه مو په نکاح سره درکړه)۔ دارنګ محققینو مفسرینو هم په دغه قصّه باندے رد کړے دے تفسیر ابن کثیر کښې ویلے دی "چه ذکر کړیدی ابن ابی حاتم او طبری بعض اثار دَ سلف نه مونږ دَ هغے نه څرګندوو پس نه ئے ذکر کووْ" او تفسیر قرطبی کښې لیکلے دی چه بعضو مفسرینو روایت کړے دے چه نبی صلی الله علیه وسلم په ښځه دَ زید باندے مئین شو او بعضو بکواس کوونکو ویلے دی چه عاشق شو نو دا دَ هغه چا نه صادریږی چه دَ نبی دَ عصمت نه جاهل وی یا سپک والے کوی دَ حرمت دَ نبی۔ بیا تفسیر قرطبی یو سوال ذکر کړیدے چه هر کله نبی صلی الله علیه وسلم ته معلومه وه چه زینب به دَ زید نه ضرور جدا کیږی نو بیا ئے ورته ولے اُویل چه اَمسك علیك زوجك دا خو تناقض دے؟

مِنْ قَبْلُ وَكَانَ اَمْرُ اللّٰهِ قَدَرًا مَّقْدُوْرًا ﴿۳۸﴾

دَدهٔ نه مخکښ او دے حکم دَ الله تعالیٰ تقدير مقرر کړيشوے

جواب ئې ذکر کړے دے چه دا دَ نورو مقاصدو صحيحو دَپاره حجت قائمول وو عاقبت دَ خبرے پيژندل لکه چه الله تعالیٰ ته دَ يو کس پاره کښ علم وي چه دے ايمان ته راوړي او بيا هم ورته دَ ايمان راوړلو امر کوي۔ فَلَمَّا قَضٰى زَيْدٌ مِّنْهَا دَ زيد رضي الله عنه دا ډير لوے منقبت دے چه دَ هغهٔ نوم په قرآن کريم کښ لوستلے کيږي دَ بل صحابي دا صفت نيشته او علماؤ دَ دے حکمت دا ذکر کړے دے چه هر کله دَ دهٔ نسبت دَ زيد بن محمدؐ نه بدل کړيشو زيد بن حارثه ته نو په دے سره دَدهٔ زړه ته ډير خفګان اورسيدلو نو دَ هغے دَ جبيرے دَ پاره دَ دهٔ نوم ئې په قرآن کښ نازل کړو۔ وَطَرًا مراد ترينه حاجت دَ يو ځائے کيدلو دَ ښځي سره او بيا طلاق ورکول دي ځکه چه په حديث دَ مسلم کښ ثابت ده چه نزديکت نه روستو ئې طلاق ورکړيدے او دے طلاق ورکولو کښ هم دَ زيد ضرورت او حاجت پوره کيدل دي دَ دے وجے دَ هغے نه ئې تعبير اوکړو په وطر سره۔ زَوَّجْنٰكَهَا دَ دے نه معلومه شوه چه دَ نکاح دَ پاره ولي دَ نکاح پکار دے خو دا اختلافي مسئله ده۔ او په نسبت کښ الله تعالیٰ ته اشاره ده چه دَ دے نکاح الله تعالیٰ په اسمانونو کښ کړے دے لکه چه په حديث دَ نسائي کښ راغلي دي چه دے به فخر کوؤ په نورو بيبيانو باندے چه الله تعالیٰ زما نکاح په اسمان کښ کړيدے او دا دَ نبي صلّی الله عليه وسلّم خصوصيت دے چه لِكَيْ لَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ الخ دا لويه فائيده شرعيه ده په نکاح دَ زينب کښ چه هغه رد دَ شرک في التحريم دے او ترديد دَ رسم ورواج دَ مشرکانو دے چه هغوي به دَ متبنّٰی دَ ښځے سره نکاح کول هميشه دَ پاره حرام ګڼړل۔

۳۸:۔ دا بل خطاب دے نبي صلّی الله عليه وسلّم ته په صيغه دَ غائب سره دَ پاره دَ احترام۔ ربط دا دے هر کله چه نکاح دَ زينب کښ دَ خلقو دَ طعنو نه يره وه نو په دے ايت کښ ترغيب دے چه په دے نکاح کښ قرينهٔ دَ الله تعالیٰ مخلوق ته رسول دي چه هغه دَ رسم شرکي ترديد کول دي نو نبي صلّی الله عليه وسلّم لره نه دي جائز چه په دے کار کښ هغهٔ هيڅ حرج محسوس کړي۔ اَلنَّبِيُّ مراد دَ دے نه زمونږ نبي صلّی الله عليه وسلّم دے۔ حَرَجٍ مراد کَ دے نه تنګسيا او خفګان دے په تبليغ دَ رسالت کښ۔ فِيْمَا فَرَضَ اللّٰهُ دَ دے نه مراد تبليغ او دعوت دے چه فرض دے په انبياؤ باندے لَهٗ په معنیٰ دَ عَلَيْهِ دے يا مراد دَ حرج نه ګناه دے په نکاح دَ زينب رضي الله عنها را پاتے په يل مخ)

الَّذِيْنَ يُبَلِّغُوْنَ رِسٰلٰتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهٗ

دا هغه کسان دي چه پيغامونه د الله تعالیٰ رسوي او ويريږي د هغه نه

وَلَا يَخْشَوْنَ اَحَدًا اِلَّا اللّٰهَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

او نه ويريږي د هيڅ يو نه سوا د الله تعالیٰ نه او پوره دے الله تعالیٰ

حَسِيْبًا ﴿۳۹﴾ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ

حساب کوونکے. نه دے محمد صلی الله عليه وسلم پلار د هيڅ يو د

رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ

ستاسو سړو نه ليکن رسول د الله تعالیٰ دے او آخری دے

کښې لکه سورة اعراف ۲ کښې او فَرَضَ نه مراد تقديرِ د الله تعالیٰ دے. د دے نکاح په باره د نبي صلی الله عليه وسلم، او لَهٗ په خپله معنیٰ دے. سُنَّةَ اللّٰهِ مراد د دے نه طريقه د الله تعالیٰ ده په ټولو انبياؤ عليهم السلام باندے د لرے کولو د حرج په تبليغ او دعوت کښې يا مراد د دے نه طريقه د وسعت ده په باره د نکاح کښې په مختلفو انبياؤ عليهم السلام باندے لکه داؤد او سليمان عليهما السلام شو. او سُنَّةَ نه مخکښې حرف د کاف حذف دے يعنې کسُنَّةِ ريشان د طريقے) يا فعل سره پټ دے يا اِتَّبِعْ پټ دے. قَدَرًا تير شوي ايت کښې مَفْعُوْلًا ذکر کړو ځکه چه هلته مراد نکاح د زينب سره وو او هغه پوره کړے شو او په دے ايت کښې قَدَرًا ذکر کړو ځکه چه فَرَضَ کښې معنیٰ د تقدير ده. او مَقْدُوْرًا د تاکيد د پاره دے يعنې هيڅ تبديلي او خلاف په هغے کښې نه واقع کيږي.

۳۹ دا صفت يا بدل دے د اَلَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ نه او ذکر د شان د تير شوؤ انبياؤ دے په درے صفتونو سره ۱ رسول د ټولو پيغامونو د الله تعالیٰ چه په هغے کښې هيڅ کمے زياتے د ځان نه نهٔ دے کړے. ۲ د الله تعالیٰ نه يره کول يعنې دا خشيت الٰهي سبب دے د پاره د پوره دين رسولو. ۳ او بل چا نه يره نه کول يعنې د چا د ويرے نه په دين د الله تعالیٰ کښې هيڅ خيانت، کتمان، تلبيس نه کول. وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا دا يره ده هغه کسانو ته چه پيغمبرانو باندے اعتراضونه کوي يعنې الله تعالیٰ به د دوی سره حساب اوکړي چه په څه سبب سره دوی اعتراضونه کول.

النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۴۰﴾

دَ پیغمبرانو ته او دے الله تعالیٰ په هر څیز باندے علم لرونکے.

ع ۵ / ۲

ف ۱:- دا خطاب دے مؤمنانو ته او په دے کښ جوابونه دَهغه اعتراضونو دی چه خلقو په نکاح دَ زینب رضی الله عنها په وجے سره په نبی صلی الله علیه وسلم باندے کول. اول اعتراض. چه دے نبی دَ خپل ځوئی دَ ښځے سره نکاح کړے ده؟

نو جواب ارشو مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ. یعنی دَ نبی په نارینه اولاد کښ سړیتوب یعنی بلوغ ته هیڅ یو نه دے رسیدلے ځکه چه نارینه اولاد دَیٔ په وړوکوالی کښ مړه شوی دی هاں لونړه یٔ څلور بلوغ ته رسیدلے وے او واده شوے وے،

او رِجَالِكُمْ کښ اشاره ده چه ستاسو نه هیڅوک دَهغهٔ ځوئیٔ نشی جوړیدلے، نو په دے کښ نفی دَ حقیقی بالغ ځوئیٔ او مجازی یعنی دَ متبنیٰ دواړو مراد ده. دویم اعتراض! چه څه ضرورت دؤ چه دهٔ دَ زینب سره نکاح کوؤ اگرچه اِنکوریٔ نه ده خو خلق طعنونه کوی؟

جواب اوشو وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ یعنی دا مسئله زچه رد دَ رسم شرکی دے) رسول ضروری دی او دِے پیغمبر دے په دهٔ باندے دا رسول فرض دی. دریم اعتراض! څه ضرورت دؤ چه دهٔ دا خبره رسوله بلکه دَ دهٔ نه روستو به بل پیغمبر راغلے وے نو هغه به رسولے وے؟ جواب اوشو وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ یعنی دِے اخری نبی دے دَ دهٔ نه روستو بل نبی نه راځی. څلورم اعتراض چا ته علم دے چه بل نبی روستو نه راځی کیدے شی چه راشی؟ جواب اوشو وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا یعنی الله تعالیٰ ته علم دے او هغه دا خبر راکړے دے.

فائده:- دَ ایت دَ مضمون او روندانش نه صریح معلومه شوه چه خاتم النبین نه مراد دا دے چه دا اخری نبی دے دَ دهٔ نه روستو بل نبی راتلونکے نیشته او دا رنګ په حدیث صحیح کښ راغلی دی "وانا خاتم النبین لا نبی بعدی" (ابو داؤد) او بل حدیث صحیح کښ دی "وانا العاقب والعاقب الذی لیس بعدهٔ نبی" او دَ دے نه علاوه ډیر احادیث شته نو معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ خاتم معنیٰ په اخر سره کړے ده. او دا رنګ په لسان العرب (کتاب دَ لغت) کښ ویلی دی چه "خاتم النبین اخرهم".

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيْرًا ﴿٤١﴾

اے ایمان والو یادوئ الله تعالی په یادولو ډیرو سره

وَّسَبِّحُوْهُ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿٤٢﴾ هُوَ الَّذِيْ

او پاکي وایئ د هغه صباح او بیګاه ئي الله تعالی هغه ذات دے

نو دا ایت قطعي نص دے په دے باره کښ چه زمونږ نبي اخري نبي دے ددۀ نه روستو بل نوے نبي جوړیدونکے نیشته ددے نه انکار کول د قطعي نص نه انکار کول دي او دا انکار کفر دے او د عیسٰی علیه السلام په نزول باندے د اسمان نه احادیث متواتر راغلي دي لیکن د هغۀ په راتللو سره ختم نبوت ته هیڅ نقصان نه رسي ځکه هغه زوړ ځکنے نبي دے او هر کله چه راشي نو نوے وحی به ورته نه راځي بلکه فیصله به زمونږ د نبي صلی الله علیه وسلّم په شریعت سره کوي. او ددے په خلاف کښ د بعض اهلِ علمو لغزشات نه اعتبار نیشته لکه ابن حجر هیتمي په فتاوی حدیثیه کښ د ابراهیم ابن النبي صلی الله علیه وسلّم د نبوت امکان ذکر کړے دے لکه چه مفسر الوسي په هغه باندے رد کړیدے او دا رنګ تفسیر قرطبي کښ رد دے په کتاب الاقتصاد د غزالي باندے او مرزا غلام محمد ویلي دي چه خاتم په معنیٰ د مُهر دے یعنی زمونږ د نبي راتلل د نورو پیغمبرانو تصدیق دے اول جواب دادے چه مخکښ ذکر شوه چه صحیح احادیثو کښے او د لغت په کتابونو کښ خاتم په معنیٰ د اخر دے. دویم جواب دادے که خاتم په معنیٰ د مُهر شي نو مطلب دادے چه د اخري نبي دے ځکه چه مُهر په اول یا په مینځ کښ نه وي بلکه په اخر کښ وي او د مبرّد قول دادے چه خاتّم فعل ماضي دہ یعنی ختم کړیده دے نبي سلسله د نورو پیغمبرانو او نبي د رسول نه عام دے نو هر کله چه ثابت شوه چه دے اخري د انبیاؤ دے او بل نبي ددۀ نه روستو نشي راتللے نو لازمًا معلومه شوه چه رسول خو بالکل نشي راتللے۔

٤١ سـ ٤٢ :- ددے ایت نه تر اخره د سورت پورے څلورم باب دے په دے کښ باقي پنځه خطابات دي نبي صلی الله علیه وسلّم ته ٤٥ سـ ٤٨ سـ ٥٠ سـ ٥٢ سـ ٥٩ کښ او اووۀ خطابات دي مؤمنانو ته ٤١ سـ ٤٢ سـ ٤٩ سـ ٥٣ سـ ٥٦ سـ ٦٩ سـ ٧ کښ او تخویفات دي په اتۀ ایاتونو کښ ٥٧ سـ ٥٨ سـ ٦٤ سـ ٦٥ سـ ٦٦ سـ ٦٨ سـ ٧٢ کښ او زجر دے منافقانو ته په سوال غیر ضروري باندے په ٦٣ کښ۔

په دے (٤١ سـ ٤٢) کښ خطاب دے مؤمنانو ته په دوه اوامرو سره. ذکر کثیر او تسبیح هر وخت. ربط د مخکښ ایت سره دادے هر کله چه هغه وهمونه او اعتراضونه ئې دفع کړل کوم چه په نبي صلی الله علیه وسلّم باندے خلقو کول

يُصَلِّيْ عَلَيْكُمْ وَمَلٰٓئِكَتُهٗ لِيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

چه هغه ذات دے چه) رحمتونه لیږي په تاسو او ملائیک ئې (هم ستاسو دپاره دعاګانې غواړي) دپاره د دے چه اوباسي تاسو له تیارو نه

اِلَى النُّوْرِ ۭ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا ﴿۴۳﴾

رڼا ته او دے په مؤمنانو باندے خاص رحم کوونکے دے.

نو په دے ایتونو کښ دَ شکونو او وهمونو دَ زائل کولو دَپاره علاج ذکر کوی. ذِكْرًا. دا عام لفظ دے عبادات بدنیه مالیه قلبیه، لِسانیه ټولو ته شامل دے. كَثِيْرًا ډیر هغه دے چه په اخلاص دَ زړه او په سنت طریقے سره وی. دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه مفسرینو روایت راوړے دے چه الله تعالیٰ په بندګانو باندے چه کوم فریضه ایښے ده نو دَ هغے انداز ئې مقرر کړے دے ماسوا دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه دویم دا چه دائې په هرحالت او په هرځائے کښ لازم کړے دے په ولاړے په ناسته په ملاسته په شپه او ورځ، اوچه، دریاب، صحت، بیماری په اقامت او سفر کښ وغیرها. وَسَبِّحُوْهُ دا خاص ذکر دے روستو دَ عام نه. اشاره ده چه په ذکرونو کښ روستو دَ قرآن کریم نه افضل ذکر تسبیح او حمد دے او په دے کښ اشاره ده چه دَ الله تعالیٰ په هیځ حکم باندے (او په نکاح سره ورکولو دَ زینب نبی صلی الله علیه وسلم ته) اعتراض کول جائز نه دی. بُكْرَةً وَّ اَصِيْلًا دَ دے دواړو وختونو فضیلت ډیر دے دَ دے وجے نه ئې دا خاص ذکر کړل نور اوقات هم مراد دی یا مراد دَ دے نه ورځ او شپه ده او مراد دَ تسبیح نه سبحان الله ویل په ژبه باندے سره دَ عقیدے نه او دا رنګ مونځ کولو ته شامل دے.

۴۳:- په دے ایت کښ سبب دے دَپاره دَ ماقبل یعنی ذکر او تسبیح دَ دے وجے نه کوئې چه هغه په تاسو باندے سره دَ ملائکو نه صلاة رالیږی یا دا نتیجه او تفریع ده یعنی هرکله چه تاسو هر وخت دَ الله تعالیٰ ذکر او تسبیح کښ مشغول یئې نو الله تعالیٰ په تاسو باندے صلوة رالیږی او صلوة دَ الله تعالیٰ او ملائک سبب دے دَپاره دَ وتلو دَ ظلماتو نه نور ته او هغه بیا سبب دے دَپاره دَ خاص رحمتِ الٰهیه -

صلوة په اصل کښ رعایت او عنایت کول دی او هغه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه رحمت کول او نیک ذکر دَ هغهٔ په بندګانو کښ اشاعت کول او دَ ملائکو دَ طرف نه استغفار غوښتل دی ځکه چه ملائک مستجاب الدعوات دی (یعنی دَ هغوی دُعاګانے قبلیږی) او دا استغفار سبب دَ رفع درجات دے او دَ مؤمنانو دَ طرف نه دُعا غوښتل په الفاظو دَ صلوة سره یا صرف دُعا غوښتل دَپاره دَ رحم دَ الله تعالیٰ دی ظلمات، مراد دَ دے نه تیارے دَ منافقت او اعتراضونه او طعنونه کول دی په (پاتے په بل مخ)

تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهٗ سَلٰمٌ ۚ وَّاَعَدَّ لَهُمْ
پیشکشي د دوی به په هغه ورځ چې ملاقات شي الله تعالیٰ ته سلام به وي او تیار کړی دے دوی لره

اَجْرًا كَرِيْمًا ﴿۴۴﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّآ اَرْسَلْنٰكَ
ثواب عزت والا اے نبي یقینًا لیږلے یې مونږ ته

شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ﴿۴۵﴾ وَّدَاعِيًا
بیان کوونکے او زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے او بلنه کوونکے

اِلَى اللّٰهِ بِاِذْنِهٖ وَسِرَاجًا مُّنِيْرًا ﴿۴۶﴾
الله تعالیٰ ته په حکم د هغه سره او چراغ بلیدونکے.

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ
او زیرے ورکړه مؤمنانو ته چه یقینًا دوی لره د طرف د الله تعالیٰ نه

اهل حق یاندے او کفر و شرک او جهل ته هم شامل دے. او نُوْر نه مراد یقین او کامل ایمان او توحید او سنت دے. وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَحِيْمًا، كَانَ دلالت کوی په دوام او استمرار باندے او لفظ دَ بالمومنین دلیل دے چه سبب دَ رحمت وصف دَ ایمان دے.

۴۴: په دے کښ بشارت اخرویه دے. تَحِيَّةٌ هغه قول ته وائي چه سبب دَ خوشحالئ دَ مخاطب وی نو هغه دُعا لفظ دَ حيّاك الله ته شامل دے او السلام علیکم ویلو ته شامل دے او دَ الله تعالیٰ نسبت دَ خائسته صفاتو ته شامل دے. په دے ایت کښ مراد الفاظ دَ خوشحالئ دی او دَسلام نه مراد سلامتیا او مبارکی ورکول په سلامتیا باندے.

۴۵ ۴۶ ۴۷ ۴۸ په دے ایاتونو کښ نبي صلی الله علیه وسلم ته پنځه خطابات دی او دَ نبي صلی الله علیه وسلم پنځه نومونه ذکر دی. شَاهِدًا مراد دَ دے نه شهادت دَ هغهٔ دے په اُمت خپل باندے په رسالت او تبلیغ سره یا مراد دَ دے نه بیان کوونکے دے او دا دواړه معانی لسان العرب کتاب کښ لیکلی دی. دویمه معنیٰ دلته غوره ده ځکه چه روستو دوه صفتونه تشریح دَ بیان کولو دی. وَدَاعِيًا اِلَى اللّٰهِ، مدعیٰ یې ورته نه دے ویلے ځکه چه مدعیٰ هغه وی که خپله دعویٰ پریږدی نو پریخودلے شی او هرچه داعی دے نو هغهٔ ته دَ دعوت پریخودلو اجازت نیشته. بِاِذْنِهٖ په دے کښ اشاره ده چه نبي صلی الله علیه وسلم دَ ځان نه هیڅ نه دی جوړ کړی. سِرَاجًا شمس یا قمر یې ورته نه دی ویلی ځکه هغوی چه غائب شی نو بیا یې فائده دَ رنړا نه وی.

فَضْلًا كَبِيرًا ﴿٤٧﴾ وَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَالْمُنَافِقِينَ

فضل لوئے دے . او خبره مه منه د کافرانو او منافقانو

وَدَعْ أَذَاهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ

او پریگده ضرر د دوی او ځان سپاره په الله تعالیٰ باندے او پوره دے الله تعالیٰ

وَكِيلًا ﴿٤٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ

ذمه وار . اے ایمان والو هر کله چه نکاح اوکړئ

الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ

د مؤمنو زنانو سره بیا طلاق ورکړئ تاسو هغوی لره مخکښ د

تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ

یو ځائے کیدلو نه د هغوی سره نو نیشته تاسو لره په هغوی باندے هیڅ عدت

اوسراج نه بل څوک خپل ځان دپاره رڼړا اغستلے شی اگرچه سراج مړ شی لیکن رڼړا یئے باقی وی او دغه شان د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم دے. مُنِيرًا مراد دا چه رڼړا یئے تیزه اوچمک دار؟ ده که چرے د سراج په رڼړا کښ کموالے وی نو د انسان طبیعت پرے خفه وی. وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ دا ذکر د حال د هغه کسانو دے چه د سراج منیرنه یئے رڼړا حاصل کړے ده او د دے معطوف علیه محذوف دے یعنی ته لحاظ کوه د احوالو د امت خپل. وَلَا تُطِعِ دا ذکر د حال د هغه کسانو دے چه محروم دی د رڼړا نه. او هر کله چه په سبب د نکاح د زینب سره د کافرانو او منافقانو د طرف نه (رازی) تکلیف ورکول وو نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او په هغه پسے یئے خبرے کول شروع کول نو د لته یئے اوفرمائیل وَدَعْ أَذَاهُمْ یعنی د دوی بد وئیل او طعنو ته کول په هیڅ کښ مه شماره صبر پرے کوه جواب هم مه ورکوه -

مفسر قرطبی د قاضی ابوبکر نه نقل کړیدی چه د نبی صلّی الله علیه وسلّم اووه شپیته نومونه دی او بل روایت یئے ذکر کړے دے چه د هغه یو سل اتیا نومونه دی لیکن چا چه د هغه یو کم سل نومونه لیکلی دی نو دا دوی تشبیه د نبی صلّی الله علیه وسلّم کوی د الله تعالیٰ سره -

تُعْتَدُّوْنَهَا ۚ فَمَتِّعُوْهُنَّ وَسَرِّحُوْهُنَّ سَرَاحًا

چه شمارئ تاسو هغې لره تو سامان ورکړئ هغوی لره او رخصت کړئ هغوی لره په رخصتې

جَمِيْلًا ﴿۴۹﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ اِنَّاۤ اَحْلَلْنَا لَكَ اَزْوَاجَكَ

ښائسته سره. اے نبی یقینًا حلال کړے دی مونږ تا لره بیبیانې ستا

الّٰتِيْۤ اٰتَيْتَ اُجُوْرَهُنَّ وَمَا مَلَكَتْ يَمِيْنُكَ مِمَّاۤ

هغه چه درکړے دی تا مهرونه د هغوی او هغه وینځې چه مالک یې دے ښے لاس ستا د هغه زیاتونه چه

۴۹: داخطاب دے مؤمنانو ته. ربط دادے چه دکافرانو او منافقانو پشان مه کیږئ
په اذیت ورکولو کښ بلکه هغه بیبیانې چه تاسو ترینه هیڅ فائده نه ده حاصل کړې
چه په هغوی باندے ستا هیڅ حق هم نه دے پاتې شوے لیکن د هغوی سره به
احسان کوئ او اذیت به نه ورکوئ نو معلومه شوه چه د چانه تاسو فائده دینی حاصله کړې
هغه ته به په هیڅ طریقه اذیت او تکلیف نه ورکوئ د دے وجے نه دلته حال د غیر
مدخول بها ذکر کړو ځکه چه هغه ادنیٰ درجه ده نو معلومه شوه چه د مدخول بها سره به
په طریق اولیٰ سره احسان کوئ.
فائده: په آیت کښ اشاره ده چه طلاق مخکښ د نکاح نه نیشته لکه چه روایت د
جابر رضی الله عنه د "لا طلاق قبل النکاح" نیشته طلاق ورکول مخکښ د نکاح نه".
اوکه دا سے او وائي چه هره هغه ښځه که ما ورسره نکاح اوکړو نو هغه دِ په ما طلاقه
وی، او دیته د کلما طلاق ویلے کیږی دا مسئله اختلافیه وه په مینځ د صحابه کرامو او د
ائمو مجتهدینو کښ لیکن غوره قول دادے چه په هغې سره هم طلاق نه واقع کیږی.
دارنګ په دے آیت کښ اشاره ده چه په غیر د جماع نه عدت په طلاق سره نه
لازمیږی او په بابت د وجوب د عدت کښ په خلوتِ صحیحه سره حدیث مرفوع صحیح
زما په علم کښ نیشته. اجتهادی مسئله ده.
فَمَتِّعُوْهُنَّ. دا شامل دے نصف مهر ته که چرے مخکښ د طلاق نه مهر مقرر کړے
وی. او که نه وی مقرر نو صرف جوړه جامه، لوپټه، پیزار او پړونے وغیره مراد دے.
او سراح جمیل دادے که څه یې ورکړے وی نو د حُسنِ اخلاق تقاضا دا ده چه
هغه ترینه واپس نه غواړی.

أَفَآءَ اللّٰهُ عَلَيْكَ وَبَنٰتِ عَمِّكَ وَبَنٰتِ

مهربانی کړې ده الله تعالیٰ په تا باندې رد مالِ د کافرانو نه) او لوڼه د ترۀ ستا او لوڼه د

عَمّٰتِكَ وَبَنٰتِ خَالِكَ وَبَنٰتِ خٰلٰتِكَ الّٰتِىْ

د ترورګانو ستا او لوڼه د ماما ستا او لوڼه د ماسی ګانو ستا هغه چه

هَاجَرْنَ مَعَكَ وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَّهَبَتْ

هجرت یې کړې وی تا سره او زنانه مؤمنه که چرې اوبخی

نَفْسَهَا لِلنَّبِىِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِىُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا ق

خپل ځان نبی صلی الله علیه وسلم ته که چرې غواړی نبی چه په نکاح سره واخلی هغې لره

خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ط قَدْ عَلِمْنَا

(دا) صرف تا لره ده نیشته نورو مؤمنانو لره یقینًا پوهه یو مونږه

مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِىْٓ اَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ

په هغه څیز چه فرض کړې دې مونږ په دوی باندې په باره د بیبیانو د دوی کښې او د هغه وینځو کښې چه مالک دی

اَيْمَانُهُمْ لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَيْكَ حَرَجٌ ط وَكَانَ اللّٰهُ

ښی لاسونه د دوی د پاره د دې چه نه وی په تا باندې تنګسیا او دې الله تعالیٰ

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۵۰﴾ تُرْجِىْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُـْٔوِىْٓ

بخنه کوؤنکې رحم کوؤنکې. (د نبی زنې) روستو کولې شې ته هغه بی بی چه غواړې ته د دوی نه او یو ځای کولې شې

سنه :- دا خطاب دې نبی صلی الله علیه وسلم ته په وسعت د منکوحاتو او د وینځو سره
د پاره د دې چه په دین رسولو کښې هغه ته اسانتیا راشی - په دې ایت کښې یې څلور
قسمه ذکر کړیدی اول قسم هغه زنانه چه نبی صلی الله علیه وسلم هغې سره په عوض
د مهر سره نکاح کوی یا یې کړیدې - دویم قسم هغه چه په مال غنیمت کښې حاصله
شوې وی او بیا یې ازاده کړې وی او نکاح یې ورسره کړې وی یا بغیر د ازادولو
او د نکاح کولو نه په طور د وینزې د هغې نه فائده اخلی لکه صفیه ، جویریه، ریحانه
رضی الله تعالیٰ عنهن - دریم قسم د پلار د طرف نه خپلوانې یعنی د ترۀ یا د ترور لوڼه
او د مور د طرف نه خپلوانې یعنی د ماما یا د ماسی لوڼه، د اول نه مراد قریشیه دی
او د دویم نه مراد د بنی زهره قبیلې دی او هجرت یې د دې وجې نه (پاتې په بل مخ)

إِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ ۖ وَمَنِ ابْتَغَيْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ

(تا څخه سره څه چه غواړې، او څوک بې بی چه طلب کوې ته رې څخه یې کړې (بیلې) ژ څخه دهغه قسم نه چه جدا کړې دې تا (د نوبت نه)

فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكَ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ تَقَرَّ أَعْيُنُهُنَّ

نو نیشته ګناه پر تا باندے، دا بنه نزدے ده چه یخیږي به سترګے د دوی

شرط کړیدے چه به غیر دَ هجرت نه ایمان ناقص وی او پیغمبر دَ پاره کمالِ ایمان والا پکار دَه او بعضِ اهل علمو دا شرط خاص کړے دے په نبی صلّی الله علیه وسلّم پورې او دا قول خطیب شربینی په سراج المنیر کښ ذکر کړے دے او بعضو علماؤ ویلے دی چه دا دَ ټولو مؤمنانو دَ پاره دے په دلیل دَ ایت ۷۲ انفال سره۔

فَائِدَه :۔ عم (تره) او خال (ماما) یې مفرد ذکر کړو ځکه چه هغه په معنیٰ دَ جنس دے او عمات او خالات یې جمع ذکر کړے دی ځکه چه عمةُ او خالةُ دَ پاره دَ جنس نه استعمالیږی۔ څلورم قسم هغه زنانه چه ځپل ځان نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او بخی بغیر دَ مهر نه او بغیر دَ ولی نه۔ اِنْ اَرَادَ، دَ دے نه مراد قبلول دی ځکه چه بغیر دَ قبلولو نه نکاح نه صحیح کیږی اګرچه په لفظ دَ هبه سره وی، خَالِصَةً لَّكَ یعنی حلال کیدل دَ دے شمار بیبیانو په دے څلورو قسمونو کښ خاص دی په نبی صلّی الله علیه وسلّم پورے یا متعلق دے په څلورم قسم پورے فقط۔ لیکن اول قول غوره دے۔ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی نورو مؤمنانو لره زیات دَ څلورو نه بیبیانے نه دی جائز او دا رنګ بغیر دَ مهر او دَ ولی نه نکاح دَ یو ښځے سره هم دوی له نه دے جائز۔ او دَ دے ایت دَ لاندے تفسیر قرطبی او سراج المنیر کښ دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم ډیر خصوصیات ذکر کړی دی۔

فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ۔ په باره دَ ازواجو کښ په مؤمنانو باندے مهر او ګواهان دَ نکاح او دَ ولی دَ نکاح فرض دے او په باره دَ وینزو کښ نفقه شرط ده۔

لِكَيْلَا يَكُوْنَ، دا متعلق دے دَ احللنا یا دَ خالصةً سره او دا حکمت دے دَ کثرة زوجاتو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم یعنی دَ بیبیانو په ډیر والی سره دَ ډیرو خاندانونو سره مصاهرت (سخرګنی) پیدا شی نو دَ دین تبلیغ اسان شی بله دا چه دا بیبیانے به عامو زنانو ته دَ دین پوهه ورکوی خاص طور سره په هغه مسئلو کښ چه دَ ناریته نه پردے زنانه دَ هغے تپوس نشی کولے۔

فَائِدَه :۔ بعض منکرینو دَ رسول صلّی الله علیه وسلّم په باره کښ ویلی دی چه دا نبی ډیر شهوت والا وو دَ دے وجے نه ډیرے ښځے یې کړے وے؟ جواب دا دے چه اګرچه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم شهوت دَ څلورو زرو ناریتو

وَلَا يَحْزَنَّ وَيَرْضَيْنَ بِمَآ اٰتَيْتَهُنَّ كُلُّهُنَّ ۚ

او نه به خفه کیږی او رضا به وی په هغه څه چه ته ورکوے دوی ته دا ټولے

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِىْ قُلُوْبِكُمْ ۗ وَكَانَ اللّٰهُ

او الله تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه په زړونو ستاسو کښ دی او دے الله تعالیٰ

عَلِيْمًا حَلِيْمًا ۞ لَا يَحِلُّ لَكَ النِّسَآءُ مِنْۢ بَعْدُ

پوهه او صبر والا۔ نه دی حلال ستا دپاره زنانه روستو د دے څلورو قسمونو نه۔

سره برابر وؤ (لکه چه بعض احادیثو کښ ذکر دی) لیکن سرهٔ د دے نه په نهو ازواجو باندے اکتفاء کول د هغهٔ د عفت، او صبر دلیل دے۔ بے خو د ډیر والی د بیبیانو حکمت د تبلیغ د دین نه حرج لرے کول دی۔

سلا:۔ دا د څکښ خطاب سره متعلق دے یعنی هغه ایت کښ فراخی په باره د نکاح کښ د نبی صلّی الله علیه وسلّم دپاره ذکر کړے شوه اوس په دے ایت کښ فراخی په باره قسم د بیبیانو د هغهٔ کښ ذکر کوی دپاره د دے چه په نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے حرج نه وی۔ قسم، د ازواجو په عام مؤمنانو باندے واجب دے یعنی که د یو سړی د یو نه ډیرے بیبیانے وی نو په حقوق اداکولو کښ به عدال کوی او په شپه تیرولو کښ به هم مساوی حصه هر یو لره ورکوی هاں نزدیکت حسب خواهش دے په هغے کښ مساوات امکان نه لری لکه چه د زړه بے اختیاره محبت کښ برابری هم د انسان د وس نه بهر ده۔ په نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے قسم (د دے ایت په تقاضا) واجب نه وو لیکن سرهٔ د دے نه به هغهٔ اهتمام د قسم کوؤ۔ تُرۡجِیۡ، مراد دا دے که نمبر د یو بی بی روستو کوے نو تا لره اختیار دے۔ د تُؤۡوِیۡ، مراد دا چه یو بی بی ځان ته بے نمبره راغواړے نو هم ستا اختیار دے۔ د مَنِ ابۡتَغَیۡتَ، مراد دا دے که یوه بی بی تا د نمبر نه د بیستلے وی او بیا ئے په نمبر کښ داخلول غواړے نو هم ستا اختیار دے۔ لکه سوده رضی الله عنها خپل نمبر عائشه رضی الله عنها ته بخلے وؤ او د نمبر نه وتلے وه۔ ذٰلِكَ اَدۡنٰی، په دے کښ فائدے بیانوی چه هر کله په تا باندے قسم واجب نه دے او سرهٔ د دے نه د هغوی حقوق برابر اداکوے نو په دے کښ درے فائدے دی اوله فائده دا چه اَنۡ تَقَرَّ اَعۡیُنُهُنَّ یعنی هر کله چه ته په خپله رضا د هغوی حق اداکوے نو هغوی په خوشحاله وی۔ تَقَرَّ ماخوذ دے د قرار نه یعنی د خوشحاله انسان سترګے په ځائے ولاړے وی ډیرے نه اوړی راوړی او د غمژن سترګے ډیرے اوړی راوړی یا ماخوذ دے د قر مقابل د حر (ګرمئ) نه (پاتے په بل مخ)

وَلَآ اَنۡ تَبَدَّلَ بِهِنَّ مِنۡ اَزۡوَاجٍ وَّلَوۡ اَعۡجَبَكَ

او نه دی جائز چه بدلے کړے په دوی سره نورے (قسمونه) بیبیانے اګرچه خوشحاله دی تالره

حُسۡنُهُنَّ اِلَّا مَا مَلَكَتۡ يَمِيۡنُكَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ

ښائست د هغوی سوا د هغه چه مالک دے ښی لاس ستا او دے الله تعالیٰ

عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ رَّقِيۡبًا ﴿۵۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا

په هر څیز پاندے نګهبان۔ اے ایمان والو

یعنی د خوشحاله انسان سترګے یخ وی او د غمژن سترګے ګرمے وی۔ دویمه فائده وَلَا يَحۡزَنَّ یعنی که څه وخت جدا شی نو خفګان به نه ورځی۔ دریمه فائده وَيَرۡضَيۡنَ، یعنی که ته لږ حق ادا کوے نو هم به رضا وی یعنی وائی یه چه زمانو په دهٔ باندے څه زور یا وجوب نیشته۔ وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ مَا فِىۡ قُلُوۡبِكُمۡ، په دے کښ اشاره ده د زړه بے اختیاره محبت ته چه د یو بی بی سره زیات وی او بل سره کم وی لیکن په دے کښ فرق نه کوی نو په دے کښ هیڅ مواخذه نیشته لکه زیات محبت د نبی صلّی الله علیه وسلّم د عائشه رضی الله عنها سره وو۔

ف۵۲:۔ دا بل خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته۔ د دے ایت د حکم په باره کښ اختلاف دے یو قول دا دے چه دا منسوخ دے او محکین (ف۵۰) ایت ئې ناسخ دے مقصد دا دے چه کوم وخت دا ایت نازلیدلو نو د نبی صلّی الله علیه وسلّم په نکاح کښ نهه بیبیانې وے نو اویلے شو چه د دے نهو نه زیاتے بیبیانے تالره جائز نه دی او دارنګ د دوی په بدل کښ هم نه دی جائز نو بیا څه موده روستو (۵۰) ایت نازل شو چه تاله هر څومره بیبیانے چه کوے نو جائز دی، په دے قول باندے دا اعتراض دے چه ناسخ منسوخ کښ قاعده دا ده چه منسوخ مقدّم وی او ناسخ مؤخر وی او دلته خو برعکس دے جواب دا دے چه دلته تقدیم تاخیر په ترتیب د لیکلو کښ دے په نزول کښ نه دے۔ دویم قول دا دے چه دا ایت منسوخ نه دے بلکه مراد د ایت دا دے چه د د غه څلورو قسمونو نه (کوم چه ف۵۰ کښ ذکر شویدی) علاوه نور قسمونه تاله جائز نه دی بلکه یهودیه، نصرانیه، مجوسیه، وثنیه او چه مؤمنه وی خو هجرت ئې نه وی کړے او نه اعرابیه او نه غریبه او دا قول نقل کړے دے خطیب په سراج المنیر کښ عکرمه نه او ضحاک او ابی بن کعب او ابوصالح او مجاهد۔ مِنۡۢ بَعۡدُ یعنی سوا د د غه څلورو قسمونو نه۔

لَا تَدْخُلُوا بُيُوتَ النَّبِيِّ إِلَّا أَنْ يُؤْذَنَ

مه ننوځئ کورونو دَ نبی صلی الله علیه وسلّم ته مګر هغه وخت چه اجازت اوکړېشی

لَكُمْ إِلَىٰ طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِينَ إِنَاهُ ۚ وَلَٰكِنْ

تاسو ته دپاره دَ خوراک ته به یئ انتظار کوونکی دَپخیدلو دَخوراک لیکن

إِذَا دُعِيتُمْ فَادْخُلُوا فَإِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوا

کله چه او بللے شئ نو ورننوځئ نو کله چه خوراک اوکړئ نو خوارہ شئ

وَلَا مُسْتَأْنِسِينَ لِحَدِيثٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكُمْ

(او نه په اساریګئ) مینه کوونکے دَ خبرو کولو یقینًا دا کار

كَانَ يُؤْذِي النَّبِيَّ فَيَسْتَحْيِي مِنْكُمْ ۖ

دے چه خفه کوی نبی صلی الله علیه وسلّم لره نو حیا کوی ستاسو نه

وَاللَّهُ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ ۚ وَإِذَا

او الله تعالیٰ حیا نه کوی دَ بیان دَ حق نه او کله چه

سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ

غواړئ دَ دوی نه سامان نو غواړئ تر بیته شا ته

حِجَابٍ ۚ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ

دَ پردے نه ، دا طریقه ښه پاک ساتونکے ده زړونو ستاسو

وَلَا أَنْ تَبَدَّلَ بِهِنَّ ، مراد دَ تبدیل نه دا دے چه یوه بی بی طلاقه کړی او دَ هغے په بدله کښ دَ بلے سره نکاح اوکړی . او دا رنګ دَ عرب جاهلیت طریقه داوه چه دَ یو بل سره به یئ بیبیانے بدلولے .

رَقِيبًا ، عالم چه هروخت حالاتو ته نظر کوی چه دَ هغه نه پرده او پټیدل هم نه کیږی . نو دَ دے خطاب حاصل دا دے چه دَ دے اقسامو نه علاوه په نکاح کولو سره دعوت دَ دین کښ تنګسیا راځی وسعت نه راځی دَ دے وجے نه منع دی .

وَقُلُوۡبِهِنَّ ؕ وَمَا كَانَ لَكُمۡ اَنۡ تُؤۡذُوۡا رَسُوۡلَ اللّٰهِ

او زړونو ددوی لره او نه دی جائز تاسو لره چه خفه کړئ رسول الله لره

وَلَاۤ اَنۡ تَنۡكِحُوۡۤا اَزۡوَاجَهٗ مِنۡۢ بَعۡدِهٖۤ اَبَدًا ؕ

او نه په نکاح کوئ د هغه د بیبیانو سره روستو د مرګ د هغه نه هیچرے ،

اِنَّ ذٰلِكُمۡ كَانَ عِنۡدَ اللّٰهِ عَظِيۡمًا ﴿۵۳﴾

یقیناً دا په تیز د الله تعالی لوے ناکاره کار دے ۔

۵۳ :۔ دا خطاب دے مؤمنانو ته ۔ په دے ایت کښ اته نواهی او اوامر ذکر دی او دا اداب د طعام د دعوت ولیمے او د ضیافت دی د نبی صلی الله علیه وسلم په کورونو کښ او عموماً د نورو مسلمانانو په کورونو کښ هم ۔ او دا رنګ مسئله د حجاب (پردے) ده ۔ او په اول کښ مقصد دادے چه نبی صلی الله علیه وسلم د دعوت و تبلیغ په کار کښ مشغول دے نو بے فائدے مجلسونو سره د هغهٔ اوقات مهٔ ضایع کوئ ۔ او دا رنګ چه بے پردګے کښ هر څوک کورته داخلیږی نو په دے سره هم د انسان زړه ته خفګان رسیږی او د دین د دعوت په کار کښ لوے حرج پیدا کیږی ۔ تفصیل د ادابو دادے اول ادب په صیغه د نهی سره چه د نبی صلی الله علیه وسلم کورونو ته بے د اجازت نه مهٔ داخلیږئ ، او دا حکم د عامو مؤمنانو په باره کښ هم دے لکه سورة نور ۲۷ کښ ذکر شویدی او تخصیص د طعام کښ اشاره ده چه اجازتونه د دخول هم بغیر د سخت ضرورت نه مهٔ غواړئ ۔ دوئم ادب غَيۡرَ نٰظِرِيۡنَ اِنٰىهُ ، دا په طریقه د نهی سره دے یعنی دومره وختی (د وخت نه مخکښ) مهٔ داخلیږئ چه طعام پوخ شوے نه وی او تاسو د هغې په انتظار کښ ناست یئ او په دے کښ کور والا ته هم تکلیف دے او دا مخکښ تلل د معوانسان په حرص د خوراک باندے دلیل دے اِنٰىهُ . اِنا مصدر دے په معنیٰ د پخیدلو سره دے ۔ دریم ادب وَلٰكِنۡ اِذَا دُعِيۡتُمۡ فَادۡخُلُوۡا ، یعنی بغیر د دعوت نه هم په طریقه د طفولیت سره مهٔ داخلیږئ ځکه چه بغیر د دعوت نه د چا طعام خوړل ګناه دے حدیث کښ یئ د هغهٔ تشبیه د سارق او مغیر (لوټ کوونکی) سره ورکړے ده ۔ څلورم ادب فَاِذَا طَعِمۡتُمۡ فَانۡتَشِرُوۡا یعنی د خوراک د فراغت نه روستو زر واپس کیدل او خوریدل پکار دی د استراحت د پاره حصاریدل نه دی جائز ۔ پنځم ادب وَلَا مُسۡتَاۡنِسِيۡنَ لِحَدِيۡثٍ دا عطف دے په غیر ناظرین باندے یعنی روستو د خوراک نه د ګپ شپ د پاره هم مهٔ حصاریږئ ۔

إِنْ تُبْدُوْا شَيْئًا اَوْ تُخْفُوْهُ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ

که چرته ښکاره کوئ تاسو څه څیز یا یې پټ کوئ نو یقینًا الله تعالی په

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴿۵۴﴾ لَا جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِيْٓ

هر څیز باندے ښه پوهه دے. نیشته ګناه په دوی (زنانو) باندے په

دَ عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه دا دَ رونبا رو او دَ ناراستو په رد کښې دے او په دے کښې دَ داعی او دَ مدعو دَ دواړو دَ وخت دَ ضائع کولو نه منع کیدل دی. إِنَّ ذٰلِكُمْ" اه، دا علت دَ پاره دَ تیر شوے احکامو دے. وَاللّٰهُ لَا يَسْتَحْيِ، استحیاء صفت دَ الله تعالی دے دَ هغهٔ دَ شان سره مناسب بغیر دَ تشبیه او دَ تاویل نه، دا صفت کله ثبوتی راځی لکه حدیث کښې وارد دی چه "ان الله تعالی حیی کریم" او کله سلبی خصوصی راځی لکه په دے جمله کښې. شپږم ادب وَإِذَا سَاَلْتُمُوْهُنَّ مَتَاعًا" اه، یعنی که دَ بیبیانو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم یا دَ نورو زنانو نه څه ضروری تپوس کوئ یا څه ضروری څیز ترینه غواړئ نو دَ دیوال او دَ دروازے دَ شا ته نه غواړئ او دَ دے نه معلومه شوه چه په کور باندے دروازه یا پرده لګول ضروری دی او واجب دی. او دا ایت په باره دَ نزول دَ حجاب کښې دے تفسیر قرطبی کښې ویلے دی چه لفظ دَ مَتَاعًا عام دے دنیوی او دینی ټولو ضروریاتو ته شامل دے نو معلومه شوه چه دَ ضرورت دَ وجے نه دَ پردو زنانو سره خبرے کول جائز دی. ذٰلِكُمْ اَطْهَرُ دا یې فائده دَ هغې ادب ذکر کړه او اطهر یې ځکه اوئیل چه کله که یو انسان متقی دَ یو زنانه سره محاجخ خبرے کوی کیدے شی چه زړه کښې یې څه وسوسه راشی لیکن چه محاجخ نه وی نو زړونه دَ دواړو به دَ وسوسو نه بالکل پاک وی. اووم ادب وَمَا كَانَ لَكُمْ اَنْ تُؤْذُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ، یعنی په هیڅ طریقه نبی صلی الله علیه وسلم ته تکلیف مه ورکوئ. اتم ادب وَلَا اَنْ تَنْكِحُوْا اَزْوَاجَهٗ" اه، یعنی هغه زنانه چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په نکاح کښې وی دَ هغهٔ تر وفات پورے او دَ هغهٔ دَ وفات نه روستو هم دَ هغوی سره نکاح کول حرام دی او بعض اهل علمو شرط لګولے دے چه صرف هغه بیبیانے چه نبی صلی الله علیه وسلم ور سره دخول کړے وی او دَ دے یو وجه دا ده چه دوی امهات المؤمنین دی او دویمه وجه دا ده چه دا به بیبیانے وی دَ نبی صلی الله علیه وسلم په جنت کښې دریمه وجه دا ده چه زوجه خو دَ اخری خاوند سره به وی په جنت کښې او څلورمه وجه دَ نبی صلی الله علیه وسلم احترام او شرافت دے. نو معلومه شوه چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په وفات سره نکاح دَ هغهٔ نه دے منقطع شوے لیکن دَ دے نه دلیل نیول دَ هغهٔ په حیات باندے (چه هغه ته حیات دنیویه باطل پرست خلق وائی) دا غلط دے.

سـ۵۵ :- دا ایت متعلق دے دَ تیر شوی ایت سره یعنی کوم منهیات (پاتے په بل مخ)

آبَآئِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآئِهِنَّ وَلَآ إِخْوَانِهِنَّ وَلَآ

په پلرانو د دوی او نه په ځامنو د دوی او نه په وروڼو د دوی او نه

أَبْنَآءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلَآ أَبْنَآءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلَا

په رویرونو د دوی کښې او نه په خوریونو د دوی کښې او نه

نِسَآئِهِنَّ وَلَا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ

په زنانه مؤمنو کښې او نه په هغه چا کښې چه مالک دی ښې لاسونه د دوی او وېره کوئ د الله تعالیٰ نه

إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا ﴿۵۵﴾

یقینًا الله تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر ناظر دے۔

چه په دغه ایت کښې بیان شول په هغې باندے عمل کول یا خلاف کول که ښکاره وی او که پټ وی نو الله تعالیٰ په هغې باندے خبر دے جزا یا سزا به ورکوی۔

۵۵:۔ هرکله چه مخکښې ایت کښې حجاب کول د زنانه فرض شول یعنی نارینه به حجاب ته دننه نه ورداخلیږی نو په دے ایت کښې د هغې نه د بعض کسانو استثناء ذکر کوی. یعنی دا مذکوره کسان د پردے دننه په حال د خلوت کښې داخلیدلے شی پلار که نسبی دی او که رضاعی وی۔ څوئے که نسبی وی او که رضاعی وی دارنګ رور او روارهٔ او خوریئے

اوعامے زنانه مسلمانانے او د کافرو زنانو نه به پرده کوی۔ او مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ نه وینزے مراد دی او د بعض اهل علمو په نیز مریئان په کښې هم داخل دی د وجے د کثرتِ طواف نه (یعنی خدمت د پاره تلل راتلل)۔

فائده ۱:۔ روارهٔ ئے په خوریئے باندے مخکښې ذکر کړو ځکه چه پلار د روارهٔ محرم د ښځے دے او پلار د خوریئے محرم د ښځے نه دے۔

فائده ۲:۔ ترونه او ماماګان ئے نه دی ذکر کړی. د اکثر اهلِ علمو په نیز هغوی هم په دے کښې داخل دی اشارةً ځکه چه بنی الأخ (روارهٔ) محرم دے د ترور د پاره نو تره هم محرم شو د رویرے د پاره او بنی الاخت (خوریئے) محرم دے د ماسی د پاره نو ماما هم محرم شو د خورزے د پاره او د بعض په نیز باندے تره او ماما په دے حکم کښې داخل نه دی لکه چه سخر او ینزے وغیره هم په دے کښې داخل نه دی۔

فائده ۳:۔ فرق په مینځ د دے ایت او د ایت سورة نور ۳۱ په مضمون کښې دا دے چه په سورة نور کښې د هغه کسانو ذکر کول مقصد دے چه هغوی ته زینت ښکاره کول جائز دی برابره خبره ده که خلوت کول ورسره

إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ

یقینًا الله تعالیٰ او ملایک دَ هغه صلوٰة (درود) وائی په نبی صلی الله علیه وسلم باندے

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا

اے ایمان والو صلوٰة وائی په هغه باندے او سلام وائی

تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ

سلام پوره - یقینًا هغه کسان چه خفه کوی الله تعالیٰ او رسول دَ هغه

جائز وی او که نوی جائز او په دے آیت کښ مراد هغه کسان دی فقط چه خلوت کول ورسره جائز دی او دوی لرِ دی په نسبت دَ هغوی سره۔

۵۶:۔ دا یل خطاب دے مؤمنانو ته په دے آیت کښ ذکر کوی عزت او شرافت او منزلت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم په ملاء اعلیٰ کښ او دغه عزت فرض کوی په ملاء ادنیٰ باندے دَ دے دپاره چه هیڅوک دَ هغهٔ نبی دَ ذات او دَ هغهٔ دَ بیبیانو په باره کښ هیڅ ناکاره فکر هم په زړه کښ رانولی دا تائید دے دَ تیر شوی حکم۔ صلاة دَ الله تعالیٰ په نبی باندے رحمتِ خاصه کول، عزت ورکول، دَ گناهونو نه معصوم ساتل، او مغفرت کول او لوئے درجے ورکول دی او صلاة دَ ملائکو دَ هغهٔ دپاره دُعاگانے غوښتل دَ هغهٔ اعزاز او احترام کول او مغفرت طلب کول دی۔ او دَ دے ټولو ته یو مشترک جال ته هم صلاة ویلے کیږی چه دَ هیڅ نه تعبیر کیدے شی په (اعتنا بالشان) سره یعنی عظمت شان دَ هغهٔ او شاباشے او آفرین ویل په هغهٔ باندے۔ صَلُّوا عَلَيْهِ دا صیغه دَ امر ده په فرضیت باندے دلالت کوی او په فرضیت دَ درود کښے درے اقوال دی اول دا چه په عمر کښ یو ځل فرض دے دویم دا چه دَ مونځ په آخره قعده کښ فرض دے دریم دا چه دَ هغهٔ دَ نوم سره ویل فرض دی۔ او مراد دَ دے نه صرف دُعا نه ده بلکه هغه الفاظ دَ درود مراد دی په دلیل دَ روایت دَ کعب بن عجره او ابوحمید الساعدی او نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره نقل دی چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه تپوس کړے شوے وُ په وخت دَ نزول دَ دے آیت کښ چه سلام کول خو مونږ رسنا ته) پیژندلے دی یعنی السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته لیکن صلوٰة به په تا باندے په کومه طریقے سره وایو نو هغهٔ ورته تعلیم ورکړو دَ هغه الفاظو کوم چه په آخره قعده کښ لوستلے کیږی۔ (تنبیه) الفاظ دَ درود به هغه معتبر وی کوم چه په (پاتے په بل مخ)

لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ

لعنت کړے دے په دوی باندے الله تعالیٰ په دنیا او اخرت کښ او تیار کړے دے دپاره د دوی

عَذَابًا مُّهِينًا ﴿٥٧﴾ وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ

عذاب ذلیلوونکے. او هغه کسان چه خفه کوی مؤمنان سړی

صحیح احادیثو سره نقل وی ذکومو الفاظو چه نقل نیشته لکه درود تاج درود لکهی یا الصلوٰة علیك یا رسول الله نو د دے لوستل منع دی ځکه چه بنا د عباداتو او اذکارو په نقل او په اتباع باندے ده. دا رنګ کوم احادیث چه صحیح نه دی نو د هغې الفاظو نه هم ځان ساتل ضروری دی په دے مقام کښ امام قرطبی په خپل تفسیر کښ د ابن عربی نه ډیر مفید کلام نقل کړے دے چه د هغې معنیٰ دا ده، ابن عربی وئیلی دی" د دے روایاتو نه بعض ضعیف دی او اصح هغه دے چه امام مالک رحمة الله روایت کړے دے نو په هغې باندے اعتماد کوئ او نور روایتونه چه په هغې کښ زیادت د لفظ رحمت وغیره راغلے دے د درود سره قوی نه دی او یقیناً لازم دی په خلقو باندے چه نظر د کوی په باره د دین کښ لکه چه نظر کوی په مالونو کښ او دوی نه اخلی په تجارتونو کښ عیبناکه اشرفۍ بلکه غوره کوی کره اشرفۍ نو دا رنګ شی اغستلے کیدے په روایاتو کښ مګر هغه چه صحیح ثابت وی د نبی صلّی الله علیه وسلّم نه سند د هغې دا ځکه چه داخل نشی په دروغو کښ په نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے، نو دے به فضیلت لټوی او البته یه په نقصان بلکه خسران مبین کښ پریوځی" (انتهیٰ). سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا مراد د دے نه تحیه د اسلام ده چه السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته او دا رنګ داخل دی په دے کښ تابعداری کول د هغهٔ او د هغهٔ ځائ ته صفتونه کول. او په سلام کښ ئې تاکید په تسلیمًا سره ذکر کړو مراد تری نه تسلیم شرعی دے او په صلوا کښ ئې تاکید ذکر نه کړو ځکه چه هلته تاکید موجود وو په مخکنی جملے سره چه ان الله وملائکته یصلون علی النبی نو بیا تاکید ته ضرورت نیشته.

ف۵۷:- په دے ایت کښ تخویف دے په عدم احترام د الله او د رسول سره روستو د ذکر کولو د احترام د هغهٔ نه. ایذا د الله تعالیٰ نسبت کول دی هغهٔ ته د ولد او د شریک او د بنځے او توصیف د هغهٔ د صفتونو او اسماؤ سره لکه چه یهودیانو ویل ید الله مغلولة، ان الله فقیر. او دا رنګ هر قسم شرک کول او د هغه د صفتونو نه انکار کول او د هغهٔ تشبیه کول د مخلوق سره، او مخالفت کول (پاتے په بل مخ)

وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا

او مؤمنې زنانه په غیر د جرم نه چه دوی کړے وی نو یقینًا پورته کړه دوی (په ځان باندې)

بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۵۸﴾ يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ

بد نامه او ګناه ښکاره - اے نبی اووایه

د هغهٔ د اوامرو او د نواهي نه هم شامل دے - او حدیث د ابو هریره رضي الله عنه کښې دی چه هغه څوک الله تعالیٰ ته کنځل کوی چه دهر ته یعنی زمانے ته د خیر او د شر نسبت کوی نو دا د ربوبیت صفت ورکوی دهر ته - او رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته ایذاء ورکول په اقوالو سره دا ده چه هغهٔ ته ساحر، کاهن، شاعر، مجنون وغیره وائي او دا رنګ د هغهٔ صفتونه د الله تعالیٰ سره مشابه کوی یا په هغهٔ باندے اعتراضونه او طعنونه کوی - او ایذاء په اعمالو کښې دا ده چه په اُحد کښې د هغهٔ سر مبارک او غ مبارک او غاښ مبارک زخمی کړے او مات کړے وو او په مکه کښې د هغهٔ د پاسه یې لری او کلیے د ځناورو اچولے وے او د هغه نوره بے عزتی یې کړے وه او دا رنګ ایذاء په عملونو کښې د هغهٔ د سنّت طریقے نه خلاف کول او د هغهٔ په سنّت باندے د بل عالم، شیخ، استاد، پیر وغیره طریقے مخکښې کنړل دی۔

فِي الدُّنْيَا اشاره ده چه په دنیا کښې به د دوی نه داسے کارونه کیږی چه اسباب د لعنتونو به وی۔

۵۸ :- په دے کښې هم تخویف دے په تکلیف رسولو سره مؤمنانو ته که سړی وی او که زنانه وی - اذیت د اهلِ ایمان په اقوالو او افعالو دواړو سره حرام دے اقوال دا دی کنځل کول، توهین کول، غیبت کول، بهتان تړل په هغوی باندے، د نسب په وجه سره سپکول وغیره او افعال دا دی وهل د هغوی، هغوی ته سپک کتل. په مؤمناتو زنانو پسے ګرځیدل او هغوی ته کتل د هغوی بے پردے کول وغیره - قرطبی ویلے دی چه الله تعالیٰ اذیت د الله او د رسول کفر ګرځولے دے او اذیت د مؤمنانو یې ګناهِ کبیره ګرځولے دے - بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا په دے کښې اشاره ده چه د مؤمنانو نه کله کله داسے جرم اوشی چه د هغې قولی یا فعلی تعزیر یا حد ورکولے شی. په دے ایت کښې لوئے تخویف دے شیعګانو او روافضو او دشمنانو د صحابه کرامو ته چه خه په اعتماد کولو سره په موضوعی او ضعیف تاریخی روایتونو سره په پیغمبر او صحابه کرامو پسے بد رد وائي -

لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ

بيبيانو خپلو ته او لونړو خپلو ته او بيبيانو د مؤمنانو ته

يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ

چه راويزان كړى د ځان د پاسه د لويو پړونو خپلو ته دا

أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ

نزدے ده چه دوى به او پيژندلے شى نو نه به شى تنګولے او دے الله تعالىٰ

غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٥٩﴾ لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ

بخنه كوونكے رحم كوونكے. كه چرے منع نه شول منافقان

سـ۵۹. دا بل خطاب دے نبى صلّى الله عليه وسلّم ته. هركله چه د اذيت د ايمان والو نه منع اوكړے شوه اوس د دفع د اذيت د پاره طريقه ذكر كوى او دا مختص دے په زنانو پورے يعنى په وخت د ستر كولو د زنانو كښ منافقان فاسقان به دوى ته اذيت نشى وركولے لكه چه په دے ايت فَلَا يُؤْذَيْنَ كښ ئے (سبب) ذكر كړے دے.
بيبيانے د نبى صلّى الله عليه وسلّم په وخت د وفات د هغه كښ نهه وے. او لونړه د هغه زينب، رقيه، ام كلثوم، فاطمه رضى الله تعالىٰ عنهن وے. يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ دا حكم په هغه وخت كښ دے چه دوى د خپل حاجت او د ضرورت د پاره د كور نه بهر اوځى. مفسر قرطبى ليكلے دى چه د جاهليت په وخت كښ به د زنانو مخونه ښكاره وو او بهر به ضرورت د پاره وتلے نو په دے ايت كښ حكم اوشو چه مخونه په پټه وى. او د ابن عباس رضى الله عنهما نه قرطبى او خطيب شربينى او نورو مفسرينو روايت كړے دے چه طريقه د جلباب (پړونے) اغوستلو دا ده چه ټول سر او بدن ترخپو پورے په پټ ساتى صرف يوه سترګه به ښكاره وى او بل روايت كښ دواړه سترګے ئے ويلے دى. معلومه شوه چه د مخ پټول هم واجب دى.
او جلباب برابره خبره ده كه پړونے وى يا بورقه وى يا اوګد قميص وى خو چه سر او مخ او خپے پټوى. ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ يعنى د ستر په سبب سره به پيژندلے كيږى چه دا ښځه اصيله او شريفه زنانه ده، وينزه او فاحشه ښځه نه ده نو هيڅوك به ئے نشى تنګولے.

وَالَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْمُرْجِفُوْنَ

او هغه كسان چه په زړونو دَ دوی كښې مرض دے او دروغ خبر خوروونكي دي

فِي الْمَدِيْنَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُوْنَكَ

په مدينه كښې نو ضرور اوبه لمسوم تا لره دَ دوی جنګ ته بيا به نشي اوسيدلے دوی تا سره

فِيْهَآ اِلَّا قَلِيْلًا ﴿٦٠﴾ مَّلْعُوْنِيْنَ ۚ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا

په هغې كښې مګر لږ . لعنت به كړے شوے وي كوم ځائے چه اومندلے شي

اُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا ﴿٦١﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ

او به نيولے شي او او به وژلے شي په وژلو سره . پشان دَ طريقې دَ الله تعالىٰ

فِي الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ

په هغه كسانو كښې چه تير شوے دي دَ دوی نه مخكښې، او چرے او به نه مومے ته طريقې

اللّٰهِ تَبْدِيْلًا ﴿٦٢﴾ يَسْـَٔلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ ۭ

دَ الله تعالىٰ لره بدلي . تپوس كوی ستا نه خلق په باره دَ قيامت كښې

۶۰ ۶۱ ۶۲ په دے اياتونو كښې زجر او تخويف دنيوی دے منافقينو ته دَ پاره دَ تاكيد دَ تير شوی حكم . المنافقون دا درے ايتونه عطف دَ صفت دے په صفت باندے او ذات يو دے يعني منافقان چه دَ هغوی په عقيده كښې نفاق دے يعني كفر دے او دَ هغوی په زړونو كښې مرض دے يعني ميلان پردو ښځو ته او دَ هغوی تنګول او هغوی پسے دروغ پراپيګنډے كونكي دي يعني دَ مؤمنانو دَ پريشان كولو دَ پاره غلط خبرونه خوروی يا په مؤمنانو باندے دَ بدنا مے لګولو ذبرخوروی نو دا ټول صفتونه دَ اهل نفاق دي . لَنُغْرِيَنَّكَ ضرور مسلط به كړو تا لره دَ دوی په قتال كولو او تيزی ، ترغيب او امر به دركړو تا ته دَ دوی په قتلولو سره .

سُنَّةَ اللّٰهِ يعني چاچه دَ انبياؤ مخكښنو ارجاف كړے دے په هغوی باندے يئے طعنونه اعتراضونه كړے دي نو الله تعالىٰ هغوی مغلوب ملعون كړی دي او دَ دنيا عذابونه يئے وركړے دي . په دے اياتونو كښې يئے تخويف مؤكد كړے دے په اووه طريقو سره .

قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَمَا يُدْرِيْكَ
ته اُووایه یقینًا علم دَ هغې دَ الله تعالیٰ سره دے او څه څیز تا له خبر درکولے شي
لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ
(په باره دَ قیامت کښې) یقینًا قیامت دے نزدے ۔ یقینًا الله تعالیٰ
لَعَنَ الْكٰفِرِيْنَ وَاَعَدَّ لَهُمْ سَعِيْرًا ﴿٦٤﴾
لعنت کړے دے په کافرانو باندے او تیار کړے دے دوی لره اور لمبو والا
خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۚ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿٦٥﴾
همیشه به دی دوی په هغې کښې همیشه نه به موندی هیڅ کوڅنګے او نه امدادی ۔

۶۳:۔ دا هم زجر دے منافقینو ته ۔ هرکله چه دوی به عذاب سره او یرولے شول نو دوی دَ قیامت په باره کښې تپوسونه شوروکړل دَپاره دَ تلبیس اچولو په مؤمنانو باندے اودَپاره دَ چپ کولو دَ نبي صلی الله علیه وسلم دَجواب نه ۔ وَمَا يُدْرِيْكَ په دے کښې استفهام انکاری دے او مفعول حذف دے معنیٰ دا "څه شے خبر درکولے شي په باره دَ وخت دَ قیامت کښې" ۔ یعنی سِوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅوک تا ته وخت دَ قیامت نشي خودلے ۔ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُوْنُ قَرِيْبًا دا مستقل کلام دے قریبا مذکر صیغه ده ځکه چه مراد دَ دے نه فی زمن قریب دے اودا ظرف زمان دے او امام بخاری وئیلے دی چه دا لفظ واقع شي دَپاره دَ مؤنث په طریقه دَ توصیف یا اخبار نو دا به مؤنث وی یعنی قریبة اوکله چه واقع شي په طریقه دَ ظرف یا بدل نو مذکر به راځي ۔ فائده :۔ کوم ځائے چه وما یدریك ذکر کړے وی نو هلته علم نه وی ورکړے شوے لکه وخت دَ قیام ساعة اوکوم چه ما ادراك ذکر کړے شوے وی نو هلته علم ورکړے وی لکه احوال او هیبتونه دَ قیامت ۔

۶۴ ۶۵ ۶۶ ۶۷ ۶۸ په دے ایتونو کښې تخویف اخروی دے په اته طریقو سره ۔ لعنت ، سعیر ، خلود ، ابد ، لا یجدون ولیًا ، ولا نصیرا ، ارمان په اطاعت دَ الله اورسول پسے ۔ براءت دَ الهۀ باطلو نه ۔

تقلب ډیر اړول راړول لکه غوښه چه رَ تلے شي ۔ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَ هرکله چه دَ دے سورت مقصد ترغیب اطاعة الله والرسول وؤ نو دَ هغې په مناسبت سره ئے دا تخویف ذکر کړو ۔ او دا تمنا په دَ سبب سره ده چه دَ دوی یقین راغے چه نجات صرف په اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَهغه کښې دے

يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ

په دغه ورځ کښې اړولے راړولے به شي مخونه د دوی په اور کښې وائي به دوی

يٰلَيْتَنَآ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَاَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿۶۶﴾ وَقَالُوْا

هائے ارمان دے چه تابعداري کړے وے مونږ د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم. او وائي به دوی

رَبَّنَآ اِنَّآ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا

اے ربه زمونږه یقیناً مونږ تابعداري کړے وه د سردارانو خپلو او د مشرانو خپلو نو ګمراهان ئې کړو مونږ

السَّبِيْلَا ﴿۶۷﴾ رَبَّنَآ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ

د حق لارے نه. اے ربه زمونږ ورکړے دوی ته دوچنده د عذاب نه

وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿۶۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او لعنت اوکړه په دوی باندے لعنت لوئے. اے ایمان والو

ع ۵

سَادَتَنَا مراد د دے نه هغه پیران او ملایان دی چه دوی ته ئې دعوت د کفر او شرک او بدعاتو ورکړے وؤ او دوی د هغوی تقلید کړے وؤ. كُبَرَآءَنَا مراد تربنه اقتدار والا دی چه په رعیت کښې ئې د فسق و فجور او خلاف د کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم نه احکام او قوانین جاري کړے وی او رعیت د هغوی تابعداري کوی. فَاَضَلُّوْنَا دغه تقلید سبب او ګرځیدو د منع د اتباع د حق نه. السَّبِيْلَا الف لام په کښې عهدی دے لار د توحید او د سنت مراد ده. آیت اګر چه صریح دے په تقلید کولو د ګمراهانو کښې لیکن دلالةً په کښې هغه تقلید شخصی داخل دے چه یو عالم خطا شویوی اجتهاداً او مقلدین د هغهٔ نه معلوم شی چه دا قول د ده خلاف دے د قرآن او سنت نه یعنی بے دلیله دے لیکن بیا هم هغه قول نه پریږدی نو دا هم تقلید مذموم دے. ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ هکښې د دے سبب ذکر کړو چه دوی خو بخپله هم ګمراهان وو او مونږ ئې هم ګمراهان کړے وو نو دوه ګناهونه شول. لَعْنًا كَبِيْرًا هرکله چه د عامو ګمراهانو د پاره عام لعنت وؤ چه په ۶۴ کښې ذکر شوید ے نو د دوی د پاره ئې د خاص لعنت دُعا اوکړه چه هغه لوئے او ډیر لعنت دے.

آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ فَبَرَّأَهُ اللَّهُ

مه کیږئ پشان دَ هغه کسانو چه تکلیفونه ئې رسولی موسیٰ علیه السلام ته نو بیخ او ساتو له ئې الله تعالیٰ

مِمَّا قَالُوا ۚ وَكَانَ عِندَ اللَّهِ وَجِيهًا ﴿۶۹﴾

دَ هغې نه چه دوی ویل او دے وو په نیز دَ الله تعالیٰ محترم ئې -

۶۹:- دا بل خطاب دے مؤمنانو ته- هرکله چه ذکر شوه سزا دَ اذیت ورکونکو نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او معلومه شوه چه دا عادات دَ کافرانو او دَ منافقانو دی نو اوس منع کوی مؤمنانو لره دَ ایذاء دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم نه او دَ تشبیه دَ یهودیانو نه- لَا تَكُونُوا مه کیږئ په اذیت ورکولو کښ دے رسول ته- یعنی دهٔ ته اذیت مه رسوئ لکه چه منافقانو ورته اذیت ورکړے وو چه زینب سره نکاح کول دا دَ انګور سره نکاح کول دی؟ او نبی صلّی الله علیه وسلّم صدقات تقسیم کول نو ذوالخویصره ویلی وو "اے محمد! انصاف کوه په تقسیم کښ انصاف دِ اونکړو" بل روایت کښ دی دوی اویل ما ارید بها وجه الله، او دَ دے قسم نورې طریقې دَ اذیت هم دی- كَالَّذِينَ آذَوْا مُوسَىٰ- ایذاء موسیٰ علیه السّلام ته یو دا وه چه انکار اوکړو دوی دَ قتال نه او اویل " اذهب انت وربك فقاتلا إنّا هٰهنا قاعدون، او دے ته اشاره ده په سورة صف ۵ کښ- دویمه ایذاء دا وه چه په هغهٔ باندے ئې بدنامه لګولے وه چه دهٔ خپل رور هارون علیه السّلام قتل کړے دے- دریمه هغه ده چه امام بخاری حدیث دَ ابوهریره رضی الله عنه نقل کړیدے چه موسیٰ علیه السّلام دَ بنی اسرائیلو نه جدا په تنها ئې کښ غسل کوؤ او دوی به په یو ځائے غسل کوؤ نو دوی اویل چه موسیٰ علیه السلام زمونږ نه جدا دَ دے وجے نه لامبی چه دهٔ باندے مرض دَ أدرة (خصیے پړسیدل) دے یا په دهٔ باندے مرض دَ برص (برګے) دے- نو الله تعالیٰ دَ هغهٔ براءت اوکړو دَ دے بدنامے نه یعنی یو ځل ئې یو ځائے لامبل او جامے ئې په کتیه باندے کیخودلے نو کتے هغه جامے او تختولے نو دے ورپسے تیز روان شو او عصا ورسره وه کتیه ځکښ او دَ ورپسے مجلس دَ بنی اسرائیلو ته اورسیدو هغوی اوکتل نو په دهٔ باندے هیڅ مرض نه وؤ او موسیٰ علیه السلام هغه کتیه په عصا باندے او هله اوکړے ترینه راوا غستلے- په دے باندے سوال دا دے چه موسیٰ علیه السلام ولے بربنړ غسل کوؤ او بیا الله تعالیٰ دَ دهٔ بے عزتی دا سے ولے اوکړه چه بنی اسرائیلو ته ئې بربنړ راوستلو؟ جواب دا دے چه په حالت دَ تنها ئې کښ هم تستر کول (ډیا نی په بل مخ)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا

اے ایمان والو ویرہ کوئے د الله تعالیٰ نه او وائیئ

قَوْلًا سَدِيدًا ۝ يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ

وینا برابر (د شرع سره) تو قبول به کړی تاسو لره عملونه ستاسو

وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ

او بخنه به اوکړی تاسو ته د گناهونو ستاسو او چاچه تابعداری اوکړه د الله تعالیٰ

افضل کار دے ځکه چه ډیر احادیث په دے باندے دلالت کوی او دا استحیاء د الله تعالیٰ او د ملائکو نه - او انبیاء علیهم السّلام په افضل طریقه باندے عمل کوی نو ظاهره دا ده چه موسیٰ علیه السّلام د غسل په وخت کښ لنګ استعمال کړے وو او په دا سے لنګ کښ کوم چه په غسل کښ استعمالیږی هم د مرض د برص او اُدرة پته نه لګیدے شی.

وَكَانَ عِنْدَ اللَّهِ وَجِيهًا یعنی دوی په دے بدنامو لګولو سره د هغهٔ بے عزتی کول غوښتل لیکن هغهٔ د الله تعالیٰ په نیز باندے عزت من وو نو د دا سے شخص عزت هیڅوک نشی کمولے. وَجِيهًا چه مرتبه ئے اوچته وی دُعا کانے ئے قبلیږی. محبوب وی عزت من وی.

سک ۱- دا آخری خطاب دے مؤمنانو ته په تقویٰ سره لکه چه اول خطاب د نبی صلّی الله علیه وسلّم د سورة په اول کښ په تقویٰ سره وو او تقویٰ جامع لفظ دے هغه احکام چه د دے سورت په خطابا تو کښ دی په هغه ټولو باندے عمل کولو ته شامل دے. وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا یعنی د نبی صلّی الله علیه وسلّم او د نکاح د زینب او د نورو بیبیانو او لونړو د نبی صلّی الله علیه وسلّم او د عامو مؤمنانو سره او بخو په باره کښ د شرع موافق قول کوئے د پاره د دے چه هغوی ته اذیت او نه رسیږی او دا رنګ دا لفظ شامل دے کلمے د لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰه او نورو کلمانو شرعیو ته.

وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿٧١﴾ اِنَّا عَرَضْنَا

او دَ رسول دَ هغه تو یقینًا کامیاب شو په لویه کامیابۍ سره - یقینًا موتږ وړاندې کړه

الْاَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالْجِبَالِ

ذمه داری په اسمانونو باندې او زمکه باندې او غرونو باندې

فَاَبَيْنَ اَنْ يَّحْمِلْنَهَا وَاَشْفَقْنَ مِنْهَا وَ

نو مخوی ځان ئې ګړو دَ خیانت کولو ته او او یریدل دَ خیانت دَ هغې نه او

حَمَلَهَا الْاِنْسَانُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ ظَلُوْمًا جَهُوْلًا ﴿٧٢﴾

دَ پورته کولو دَ هغې نه (خیانت کولو نه په هغې کښې) انسانانو یقینًا دغه انسان ډیر ظالم او جاهل دے۔

سلے :۔ دا دَ تقوی او دَ قول سدید دوه فائدې ذکر کوی۔ يُصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ مراد دے ته په عملونو کښې حسن پیدا کول او عملونو ته قبلول دی۔ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اختتام دَ احکامو کښې ئې دا جمله ذکر کړې ده ځکه چه دَ ټولو اساس اطاعت دَ الله او دَ رسول دے۔

سلے :۔ هرکله چه په سورت کښې آداب، اخلاق او احکام بیان شول او هم دا امانت دَ الله تعالیٰ دے په ذمه دَ انسان باندې نو اوس زجر ذکر کوی هغه انسان ته چه په دې امانت کښې خیانت کوی۔ دا رنګ تیر شوی آیت کښې دَ اطاعت کوؤنکو حال ئې ذکر کړے دے نو اوس دَ خیانت کوؤنکو حال ذکر کوی۔ په دے آیت کښې یو اشکال دے هغه دا دے چه انسان امانت دَ الله تعالیٰ پورته کړو او قبول ئې کړو نو پکار وؤ چه دَ هغه مدح او تعریف ئې کړے وے لیکن هغه ته ئې لوے ظالم او ډیر جاهل اوویل او هرکله چه مراد دَ انسان نه خاص آدم علیه السلام شی بیا خو ډیره بعیده ده چه هغه ته ظلوم او جهول وویلے کیږی دَ دے یو جواب دا سے کړے شوے دے چه اِنَّهٗ ضمیر دغه انسان ته نه دے راجع بلکه بل خیانت کر انسان ته راجع دے لیکن دا جواب دَ بلیغ کلام سره مناسب نه دے دوېم جواب دا سے کړے شوے دے چه آدم علیه السلام ته ظلوم جهول په معنی لغوی سره وویلے شوی دی لیکن دا هم مناسب نه دے غوره جواب دا دے چه امانت نه مراد یو مناسب ذمه داری ده۔ اسمانونو ته چه الله تعالیٰ دَ کوم کارونو او فائدو دَ پاره جوړ کړل او دا رنګ زمکه او غرونه او انسان هم نو دوی دَ پاره امانت (ذمه واری) او احکام شرعیه دی چه هغه دَ دوی مناسب دی نو اسمانونو او زمکے

لِّيُعَذِّبَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ

ژباړه دَ دے چه عذاب ورکړی الله تعالی منافقانو سړو او منافقو زنانو ته

وَالْمُشْرِكِيْنَ وَالْمُشْرِكٰتِ وَيَتُوْبَ اللّٰهُ

او مشرکانو سړو او مشرکو زنانو ته او توفیق دَ توبے ورکوی الله تعالی

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ وَكَانَ اللّٰهُ

مؤمنانو سړو او مؤمنو زنانو ته او دے الله تعالی

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۷۳﴾ ع ۵

بخنه کوونکے رحم کوونکے.

او غرونو دا و منل لکه سورة حٰم سجده سلا او سورة حج سلا کښ دی او انسانانو کښ اکثریت په خپل امانت کښ نقصان او کړونو دے ظالم او جاهل دے بنا په دے توجیه سره حَمل په معنیٰ دَ خیانت کولو دے دا رنګ تفسیر قرطبی او نورو مفسرینو دَ زجاج نه نقل کړے دے یعنی حمل دروند بوج پورته کولو ته وائی او امانت کښ چه خیانت اوشی نو دروند بوج تر ینه جوړشی. او دَ دے وجے نه په روستو ایت کښ اول ئے دَ خیانت والو عذاب ذکر کړے دے. او حسن بصری نه هم قرطبی روایت کړے دے چه حملها الانسان نه مراد کافر او منافق دے مطلق انسان یا ادم علیه السّلام مراد نه دے او ظلوم جهول دَ مبالغے صیغے دی دَ کافر او منافق سره مناسب دی.

سلا:- دا دَ امانت په باره کښ دَ دواړو جانبینو نتیجے ذکر کوی. متعلق دے په حمل پورے یعنی دَ خیانت کولو نتیجه دا ده چه خیانت کوونکو له به عذاب ورکوی چه چا پټ خیانت کړے وی هغه منافقان دی او چا چه ښکاره کړے وی هغه مشرکان دی.

وَيَتُوْبَ اللّٰهُ متعلق دے په مقدر پورے یعنی بعض انسان خیانت نه دے کړے نو خیانت نه کول سبب دَ توبے دے یعنی الله تعالی په هغه باندے رحم کوی او دَ زیات ترغیب دَ پاره ایت ئے ختم کړو په غَفُوْرًا رَّحِيْمًا باندے.

تمّ تفسیر سورة الاحزاب بتوفیق الملك الوهاب

سورة سبا ۳۴ مکیة ۵۸ | بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ | ایاتها ۵۴ رکوعاتها ۶

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

اول صفتونه د خدایتوب خاص الله تعالی لره دی هغه ذات دے چه د هغه په اختیار کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سورة سبا

فائده: د دے سورت نه تر اخره د قران کریم پورے څلورمه حصّه ده په الحمد لله سره شورو ده او په دے حصّه کښ رد د شفاعة قهریه او د هغې د تفریعاتو چه رد د شرک فی العبادة والدعاء دے ذکر کوی او ذکر د احوالو د قیامت او د احوالو د هغې دے په تفصیل سره او په دے حصه کښ دولس بابونه دی اول باب کښ درے سورتونه دی سبا ، فاطر اویٰس په دے سورتونو کښ رد د شفاعة قهریه په عقلی او نقلی دلیلونو سره رد کوی۔

ربط د دے سورت د ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه تیر شوی سورت کښ ترغیب وو اطاعت د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته نو په دے سورت کښ رد شدید دے د هغوی په مخالفینو باندی او د هغوی عذاب او د هغوی قبائح ذکر کوی دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ شان او عزت د رسول ﷺ ذکر کړو نو په دے کښ اثبات د رسالت د هغهٔ دے په دفع د شبهاتو سره د توحید او رسالت نه۔ دریمه وجه دا ده چه د سورة احزاب په اخر کښ تخویف د عذاب د منافقانو او مشرکانو ذکر کړے وو نو په دے کښ علت د عذاب ذکر کوی۔

دعوی د دے سورت۔ اثبات د مقاصد وڅلورو دے توحید او رسالت او صداقت د قران او اثبات د اخرت دے، اثبات د توحید دے په رد د څلور طریقو د شرک سره او په نقلی دلیلونو سره د انبیاؤ او ملائکو او جناتو یعنی اثبات د عجز د هغوی او په رد د څلورو قسمونو د شرک فی العلم او فی التصرف او فی العبادة او فی الدعاء دے او په ذکر د نولس اسماء حسنیٰ د الله تعالی سره۔ او اثبات د رسالت دے په ۲۸ کښ او په دفع د شبهے سره په ۳۴ ۳۵ کښ او په ذکر د طریقو

وَمَا فِي الْاَرْضِ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ط

او هغه څه چه په زمکه کښ دی او خاص هغه لره هم دا صفتونه دی په اخرت کښ

وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ① يَعْلَمُ مَا يَلِجُ

او هغه حکمتونو والا خبردار دے. عالم دے په هغه څه چه ورننوځی

دَ تعلیم سره چه په اول کښ لفظ دَ قل راغلے دے۔ او اثبات دَ صداقت قرآن په سلا او په تخویف سره منکرینو ته په سلا او په زجر سره په سلا کښ او اثبات دَ قیامت دے په قسم سره په سلا او په زجر سره منکرینو ته په سلا او په سلا کښ او په ذکر احوالو دَ قیامت سره۔

خلاصه دَ سورت: چه دا سورت تقسیم دے څلورو بابونو ته اول باب ترسلا پورے دے په دے کښ اول دعویٰ دَ توحید دَ او په ھفح عقلی دلیلونه په سلا سلا کښ بیا اثبات دَ قیامت په قسم سره په سلا کښ بیا بشارت او تخویف په سلا سلا کښ بیا اثبات دَ صداقت دَ قرآن په دلیل نقلی سره په سلا کښ بیا زجر منکرینو دَ قیامت او دَ رسول ته په سلا سلا بیا تخویف دنیوی په سلا کښ ذکر کړے دے۔

تفسیر

سلا:۔ په دے کښ دعویٰ دَ توحید دہ او په ھفح کښ دلیل عقلی دَ توحید دے دَ تصرف۔ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ اول الحمد لله حمد دَ دنیا ته اشاره ده تو وروسته حمد دَ اخرت ذکر کړے دے یعنی په اخرت کښ به هم ټول ښکلان خاص الله تعالیٰ دَ پاره حمد وائی لکه سورة زمر سلا کښ او دا رنګ اخرت کښ ټول نعمتونه او تصرفات او اختیارات صرف دَ الله تعالیٰ دَ پاره دی۔

وَهُوَ الْحَكِيمُ یعنی تقسیم دَ نعمتونو الله تعالیٰ دَ حکمت مطابق کړے دے۔ الْخَبِيرُ یعنی دَ هرچا په ظاهر او باطن باندے خبر دے نو حقدار دَ هر نعمت پیژنی۔

فائده:۔ سورة فاتحه کښ حمد په نعمتونو دَ دنیا او دَ اخرت باندے ذکر کړے دے بیا په سورة انعام کښ نعمتونه دنیویه دَ ایجاد ته اشاره ده او سورة کهف کښ نعمتونو دنیویه دَ ابقاء (تربیت) باندے حمد ذکر کړے دے اوس په سورة سبا کښ نعمتونه اخرویه دَ ایجاد ته اشاره ده دَ دے وجے نه الاخرة ئے ذکر کړو او روستو دریم ایت کښ اثبات دَ اخرت ئے ذکر کړے دے او سورة فاطر کښ په حمد په نعمتونو اخرویو دَ ابقاء ذکر کوی۔

فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ

په زمکه کښې او په هغه څه چه راوځي د هغې نه او په هغه څه چه راکوزیږي د اسمان نه

وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۚ وَهُوَ الرَّحِيمُ الْغَفُورُ ﴿٢﴾

او په هغه څه چه ورخيژي اسمان ته او هغه رحم کوونکے بخنه کوونکے دے.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ ۖ

او وائي هغه کسان چه کفر يې کړے دے نه راځي مونږ ته قيامت ،

قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ عَالِمِ الْغَيْبِ ۖ

ته اُووايه ولې قسم دے په رب زما راځي به قيامت ، عالم دے الله تعالى په ټولو غيبو باندے

لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ

نشي پټيدلے د هغه نه په وزن د يو ذرے په اسمانونو کښې

وَلَا فِي الْأَرْضِ وَلَا أَصْغَرُ مِنْ ذَٰلِكَ

او نه په زمکه کښې او نيشته وړوکے د دے نه

سـ۲ :- دا دويم دليل عقلي دے اول دليل د تصرف دے او دا دليل علمي دے ځکه چه تصرف بغير د علم نه نشي کيدلے. او په دے دليلونو سره اثبات د توحيد او اثبات د قيامت دواړه مقصود دی. - مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ او به ، تخم ، مالونه او مړي وغيره مراد دی وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا اوبه ، معدنيات ، بوټي اونے وغيره مراد دی. وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وحی ، ملائک ، اوبه وغيره مراد دی وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ملائک ، نيک اعمال او کلمات طيبه وغيره مراد دی . هر کله چه احوال د زمکے مونږ ته نزدے دی نو هغه يې مخکښې ذکر کړل دويم دا چه تخم په زمکه کښې واچولے شي نو روستو باران ته محتاج وی. يعْرُجُ فِيهَا د فيها په راوړولو کښې اشاره ده قبوليت د اعمالو ته چه د دنه اسمان ته ورخيژي که اليها ويلے وے نو صرف رسيدل به مراد وے او دا سے په سورة حديد سے کښې هم شته.

وَهُوَ الرَّحِيمُ دا ټول نعمتونه دليل د رحمت د هغهٔ دے او منتهى د رحمت مغفرت دے ځکه يې الغفور ورپسے ذکر کړے دے.

وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِي كِتٰبٍ مُّبِينٍ ﴿٣﴾ لِّيَجْزِيَ

او نه لوے مګر په کتاب ښکاره کښ دی. د دے دپاره چه بدله ورکړی

الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۚ أُولٰٓئِكَ

هغه خلقو ته چه ایمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړے دے د سنت موافق دغه کسان

لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿٤﴾ وَالَّذِينَ

دوی لره بخشش او رزق عزت والا دے. او هغه کسان

سَعَوْ فِي آيٰتِنَا مُعٰجِزِينَ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ

چه کوشش کوی په ایاتونو زمونږ کښ مقابله کوونکی دغه کسان دوی لره

عَذَابٌ مِّن رِّجْزٍ أَلِيمٌ ﴿٥﴾ وَيَرَى الَّذِينَ

عذاب دے د سخت عذاب نه درد ناک. او عقیده لری هغه کسان

ف ۳ :. روستو د ذکر د اخرت نه په دے کښ زجر دے منکرینو د هغې ته او د هغې اثبات کوی په قسم کولو سره په خپل ذات باندے او دا دریم سورت دے چه په هغې کښ قسم دے په ذات د رب باندے په باره د قیامت کښ. عَالِمِ الْغَيْبِ صفت د رب دے یعنی عالم دے په ارواحو او په اجسام او د هغې په اجزاؤ اګرچه بعض ټکړے د ذرے په مقدار وی او بعضے د هغې نه غټې ټکړے وی او بعضے د هغې نه نرے ټکړے وی ذَرَّةٍ نرے سور میږے دے چه په نظر باندے په مشکله سره راځی او د عربو په نیز د وړوکوالی د پاره د دې مثال پیش کیږی. فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ یعنی مګر عالم نه دے بلکه په لوح محفوظ کښ لیکلے هم دی.

ف ۴ :. په دے ایت کښ بشارت دے او ذکر د علت دے د پاره د قیامت. اولتا تیتکم پورے دے. په ایت کښ ایمان او عمل صالح ذکر کړے دے نو جزاء کښ ئې هم (مغفرت او رزق کریم) دواړه په ترتیب سره ذکر کړل. كَرِيمٌ یعنی د فائدو نه ډک دے هیڅ نقصان په کښ نیشته او په حاصلولو کښ ستړے والے هم نیشته او حساب پکښ هم نیشته.

ف ۵ :. دا تخویف اخروی دے هغه چاته چه د ایاتونو د الله تعالیٰ سره مقابله کوی فِي آيَاتِنَا په باطلولو د ایاتونو کښ او په تحریف د هغې کښ او مُعَاجِزِينَ قید دے د سَعَوْ د پاره. یعنی کوشش د هغې د ایزده کولو نه کوی بلکه مقابله ربانے په بل مخ)

اُوْتُوا الْعِلْمَ الَّذِیْٓ اُنْزِلَ اِلَیْكَ مِنْ رَّبِّكَ

چه ورکړے شویدے هغوی ته علم چه هغه کتاب نازل کړے شویدے تاته ستا د رب د طرف نه

هُوَ الْحَقَّ وَیَهْدِیْٓ اِلٰی صِرَاطِ الْعَزِیْزِ الْحَمِیْدِ ﴿۶﴾

هغه حق دے او هدایت کوی لارے د زورور او ستائیلے شوی ذات ته.

وَقَالَ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا هَلْ نَدُلُّكُمْ عَلٰی

او وائی کافران (ربو بل ته) آیا اوښایو موږ تاسو ته

رَجُلٍ یُّنَبِّئُكُمْ اِذَا مُزِّقْتُمْ كُلَّ مُمَزَّقٍ

داسے سړے چه خبردرکوی تاسو ته چه هرکله ذرے ذرے شئ تاسو په پوره ذرے کیدلو سره

اِنَّكُمْ لَفِیْ خَلْقٍ جَدِیْدٍ ﴿۷﴾ اَفْتَرٰی

یقیناً تاسو به په نوی پیدائش کښ یئ. آیا جوړ کړیدی

کوونکی دی یا عاجز کوونکی دی الله تعالیٰ لره د رانیولو د دوی نه په خپل گمان کښ. هرکله چه د عذاب مختلف قسمونه وو د دے وجے نه دلته ئے مِنْ لفظ او بعضیه راوړے دے.

سے :- دا دلیل نقلی دے د اهل کتابو نه په مقابله د مُعَاجِزِیْنَ کښ یعنی دوی مصدّقین (تصدیق کوونکی) دی. وَیَرَی عطف دے په لِیَجْزِیَ باندے یا د سره (مستانف) کلام دے او دا غوره خبره ده او رویت نه مراد رویت عملی دے.

الَّذِیْٓ اُنْزِلَ مفعول اول دے او هُوَ الْحَقَّ مفعول ثانی دے. الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ د دے نه مراد توحید والا دی که کتابی وی او که غیر کتابی وی. یَهْدِیْ فاعل د دے قرآن دے یا الله تعالیٰ دے.

سے :- په دے کښ زجر دے په انکار د قیامت باندے سره د انکار د رسول نه. رَجُلٍ ئے مجهول ذکر کړو د پاره د استهزاء او مسخرے.

كُلَّ مُمَزَّقٍ مصدر میمی مفعول مطلق دے د پاره د مبالغے یعنی پوره ذرے چه یوه ذره هم د بلے ذرے سره یو ځائے پاتے نشی یا صیغه د ظرف ده یعنی هر ځائے د ذرے کیدلو نه دا ذرات او رسیږی.

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ بَلِ الَّذِيْنَ

په الله تعالی باندے دروغ (په قصد سره) یا په دهٔ باندے لیونتوب دے (نو دروغ وائی بے اراده) بلکه هغه کسان

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ فِى الْعَذَابِ وَالضَّلٰلِ

چه ایمان نه لری په آخرت باندے په عذاب کښ دی او په گمراهئ

الْبَعِيْدِ ⑧ اَفَلَمْ يَرَوْا اِلٰى مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ

لرے کښ دی۔ آیا نو دوی نه گوری هغه څه ته چه روانده دَ دوی دی

وَمَا خَلْفَهُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنْ نَّشَاْ نَخْسِفْ

او روستو دَ دوی دی چه آسمان او زمکه ده، که چیرے اوغواړو مونږ نو به کړو

بِهِمُ الْاَرْضَ اَوْ نُسْقِطْ عَلَيْهِمْ كِسَفًا

دوی لره په زمکه کښ یا به راوغورځوو مونږ په دوی باندے ټکړے

سے۔ دا هم زجر کښ داخل دے۔

اَفْتَرٰى، دا هم دَ قال الذین دَ لاندے داخل دے او یو همزة دَ باب افتعال په کښ محذوف دے او تقابل په مینځ دَ دواړه جملو کښ دا دے چه افتراؤ نه مراد دا دے چه سرهٔ دَ عقل او دَ قصد نه ئے په الله تعالی باندے دروغ جوړ کړیٔ او اَمْ بِهٖ جِنَّةٌ مقصد دا دے چه عقل پکښ نیشته نو بغیر دَ قصد او دَ ارادے نه ئے دروغ ویلی دی یعنی دروغ ئے ضرور ویلی دی لیکن یا ئے قصدًا جوړ کړے دی یا بے قصده۔ بَلِ الَّذِيْنَ یعنی دغه دواړه نسبتونه غلط او باطل دی بلکه دوی په عذاب کښ به وی په دنیا او آخرت کښ او په گمراهۍ کښ دی په دنیا کښ او تباهۍ کښ به وی په آخرت کښ۔ ضلال په معنیٰ دَ ضیاع او دَ تباهۍ دے او هغه دُنیا او آخرت دواړو ته شامل دے۔ او په دے جمله کښ رد دے دَ هغوی دَ قول په لف نشر مرتب سره یعنی دوی چه نسبت دَ افتریٰ کوی صادق او بری ته نو دا دوی دَ پاره ضرور سبب دَ عذاب دے۔ او دوی چه عاقل هوښیار ته نسبت دَ جنون کوی نو دا سبب او علامت دَ ضلال دَ دوی دے۔ بَعِيْدِ دا سے گمراهی چه دَ حق سره هیڅ مناسبت نه لری او دلته تباهی چه منتهیٰ ئے نه ده معلوم۔

مِنَ السَّمَآءِ ؕ اِنَّ فِیۡ ذٰلِکَ لَاٰیَۃً لِّکُلِّ

دَ اسمان نه يقينًا . په دے کښ ضرور علامت دے دَ پاره دَ هر

عَبۡدٍ مُّنِیۡبٍ ﴿۹﴾ وَ لَقَدۡ اٰتَیۡنَا دَاوٗدَ مِنَّا

بنده دَ حق طلبګار . او يقينًا وركړے دے مونږ داؤد عليه السّلام ته زمونږ د طرفه

فَضۡلًا ؕ یٰجِبَالُ اَوِّبِیۡ مَعَهٗ وَ الطَّیۡرَ ۚ وَ اَلَنَّا لَهُ

غوره والے (ويلے وو مونږ) اے غرونو تسبيح وايئ دَ دهٔ سره او تابع كړے وو مونږ مارغان او نرمه كړے وه مونږ دَ ده دَ پاره

الۡحَدِیۡدَ ﴿۱۰﴾ اَنِ اعۡمَلۡ سٰبِغٰتٍ وَّ قَدِّرۡ

اوسپنه چه جوړه پوره زغرے او انداز ساته

فِی السَّرۡدِ وَ اعۡمَلُوۡا صَالِحًا ؕ اِنِّیۡ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ

په يوځائے كولو دَ كړو كښ او عمل كوئ نيك يقينًا زهٔ ستاسو عملونو لره

سـ۹ :. په دے ايت كښ تخويف دنيوى دے هر كله چه تير شوى ايت كښ دَ عذاب ذكر اوشو نو په دے ايت كښ دَ عذاب دَ قسمونو ذكر كوى۔

مِنَ السَّمَآءِ دا بيان دے دَ مابين ايديهم ځكه چه دَ انسان دَ ستركو په وړاندے دے۔

وَالۡاَرۡضِ دا بيان دَ ماخلفهم دے او مراد دَ مابين ايديهم او وما خلفهم نه ټول طرفونه دى يعنى په انسان باندے اسمان او زمكے دَ هر طرف نه احاطه كړے ده۔ اِنۡ نَّشَاۡ نَخۡسِفۡ اه دا لف نشر غير مرتب دے يعنى دَ زمكے نه عذاب خسف دے او دَ اسمان نه عذاب ټكړے راغورځيدل دى۔

مُنِیۡبٍ ، هغه انسان چه حق طرفته ګرځى په دليل سره او هيڅ ضد تعصب پكښ نه وى او انابت شرط دے دَ پاره دَ تابعدارے دَ دليل۔

سـ۱۰ :. دَ دے ايت نه دويم باب دے تر ۲۲ پورے په دے كښ حالات دَ داؤد او (سليمانؑ) عليهما السّلام او حال دَ جنانو ذكر كوى دَ پاره دَ دفع دَ شبهاتو په توحيد باندے او دليلونه نقليه هم دى په بيان دَ احتياج او دَ عبديت دَ دوى سره بيا مثال دَ اصحاب سبا ذكر كوى دَ پاره دَ تخويف دنيوى او بيا عداوت دَ شيطان ذكر كوى چه سبب دَ شبهاتو او دَ نزول دَ عذاب دے۔

په دے سـ۱۰ كښ واقعه دَ داؤد عليه السّلام ده او په دے كښ جواب دَ سوال دے چه دَ داؤد عليه السلام دَ حالاتو نه معلوميږى چه دَ (باقى په بل مخ)

بَصِيْرٌ ⑪ وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّ

ليدونكے يم - او تابع كړے وه مونږ سليمان عليه السّلام لره هوا مزل دَ صباؤُ دَ هغے يو مياشت وو او

هغهٔ ډير طاقت او قدرت ووُ په غرونو او مارغانو او اوسپنه باندے نو معلومه شوه چه دَ حاجت روايئ قدرت يئے ملرلو او شفيع قهري هم کيدے شي حاصل دَ جواب دادے چه غرونه او مارغان تابع كول او اوسپنه نرمول دا ټول كار او قدرت دَ الله تعالىٰ دے دَ داؤد عليه السّلام په هغے كښ اختيار نه ووُ دا معجزات دي او دَ نبي قدرت په معجزاتو كښ نه وي او دَ دے وجے نه په دے كارونو كښ الله تعالىٰ ځان ته نسبت كړيدے - او بل مقصد په دے واقعه كښ ذكر دَ قدرت دَ الله تعالىٰ دے په ذكر دَ امور خلاف دَ عادت نه نو دليل شو چه الله تعالىٰ په دوباره ژوندى كولو قادر دے - او دا رنگ دا دليل نقلى دے په توحيد باندے.
فَضْلًا مراد دَ دے نه نبوت او بادشاهي او نور معجزات دي - يٰجِبَالُ دا بيان دَ فضل دے او قلنا په دے كښ پټ دے - اَوِّبِيْ مَعَهٗ - تاويب، رجوع او كرځيدو ته وائي مراد دَ دے نه تسبيح ويل دي - وَالطَّيْرَ په دے كښ فعل پټ دے يعنى سخرنا معه الطير يا عطف دے په محل دَ يا جبال باندے. او جبال او طير يئے دَ دے وجے نه ذكر كړل چه غرونه ډير سخت دي او مارغان دَ انسان نه ډير نفرت كوونكي دي ليكن هر كله چه دوى دَ داؤد عليه السّلام ملګرتيا كوله نو معلومه شوه چه اونے او بوټي وغيره يئے هم تابع وو - ليكن هغه انسانان چه دَ كتو نه يئے زړونه ډير سخت وي نو هغوى يئے مخالفت كوؤ - وَاَلَنَّا لَهُ الْحَدِيْدَ دَ غرونو نه ډير سخت څيز اوسپنه ده نو دَ هغے تسخير هم ذكر كوى - هر كله چه داؤد عليه السّلام دَ جهاد سره محبت ډير لرلو او دا رنگ دَ خپل لاس نه توګټه يئے خوښه وه نو الله تعالىٰ ورته اوسپنه نرمه كړله بغير دَ اور او بغير دَ ټكولو نه په پلكونو او ستنكونو سره به يئے دَ هغے نه كړئ جوړه وله.
سا: - اِنِ اعْمَلْ سٰبِغٰتٍ دا بيان دَ علت دَ نرم والى دَ اوسپنے دے په صيغه دَ امر سره او په دے صيغه كښ اشاره ده چه دا كار يئے په امر دَ الله تعالىٰ سره دَ هغهٔ دَ رضا دَ پاره كولو - سٰبِغٰتٍ نه مخكښ موصوف پټ دے يعنى ذروعًا (زغرے) چه ټول بدن پرے پټيږي - وَقَدِّرْ فِي السَّرْدِ سرد په معنىٰ دَ جوړولو دَ زغرو دے او كړئ په يو بل كښ وركول دي - او دَ قَدِّرْ دوه معنے دي اوله معنىٰ دا چه كړئ په اندازه جوړوه نه ډيرے فراخ او نه ډيرے تنګے او نه

پاتے په بل مخ —

وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ ۚ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ ۖ وَمِنَ

مزل دَ مازیگری یو میاشت وؤ او بهیوے وہ مونږ هغه لره چینه دَ تانبے او دَ

الْجِنِّ مَنْ يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ

پیریانو نه داسے کسان وو چه کار به ئے کوؤ دَ هغه په مخکښ په حکم

رَبِّهِ ۖ وَمَنْ يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ

دَ رب دَ هغه سره او څوک چه به کوږ شو دَ دوی نه دَ حکم زمونږ نه او به څکوؤ مونږ هغه ته

مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿۱۲﴾ يَعْمَلُونَ لَهُ

دَ عذاب دَ اور لمبو والا نه . جوړول به دوی هغه لره

ډیرے غټے او نه ډیرے نرے ئے دَ پاره دَ دے چه غشے او توره وریاندے اثر نه کوی او نه په بدن باندے درنے وی او بقاعی وبلے دی چه "په دغه زغروکښ میخونه نه وو بعضو چه لیدلے وے نو داسے خبرئے راکړے دے اودا دَ دے وجے نه چه اوسپنه نرمه وه نو میخونه وهلو ته حاجت نه وؤ" دویمه معنیٰ دا ده چه دا کسب دنیوی دے نو دَ دے دَ پاره ورځے او وخت اندازه کړه نوله ورځ په دے مه لګوه بلکه ډیر وخت دَ عمل صالح دَ پاره صرف کړه چه هغه مقصد اصلی دے دَ دے وجے نه وروستو اوفرمائیل وَاعْمَلُوا صَالِحًا او په دے کښ اشاره ده چه داؤد علیه السّلام لوے شان او مرتبے والا وؤ، معجزاتو والا وؤ، لیکن بیا هم مکلف وؤ په عباداتو سره عبد وؤ نو شفیع قهری نشی کیدے .

سلا۔ په دے کښ دویمه واقعه ده په جواب دَ شبهه کښ چه دَ سلیمان علیه السّلام بادشاهی په هوا او په جناتو او مارغانو باندے دلالت کوی چه دے دَ لوے تصرف او قدرت مالک وؤ! حاصل دَ جواب دا دے چه دا قدرت دَ الله تعالیٰ وؤ دَ سلیمان علیه السلام په هغے کښ اختیار نه وؤ دَ دے وجے نه الله تعالیٰ ځان ته نسبت کوی او دا رنګ واقعه دلیل نقلی دے په توحید او په بحث بعد الموت باندے وَلِسُلَيْمَانَ الرِّيحَ . فعل دَ سخرنا دَ دے نه مخکښ پټ دے هر کله چه تسخیر صرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے نو ذکر نه ئے حاجت نیشته .

غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَّرَوَاحُهَا شَهْرٌ . قرطبی دَ حسن بصری نه روایت کړے دے چه صباؤ به روان شو دَ دمشق نه نو دَ غرمے آرام به ئے اوکړو په اصطخر کښ او دَ ډودۍ په مینځ کښ دَ یوے میاشت پیاده مزل دے ریاتے په بل ځ)

مَا يَشَآءُ مِنْ مَّحَارِيْبَ وَتَمَاثِيْلَ وَجِفَانٍ
تـه به چه خوښه وي دهٔ ته عبادت خانې او نمونې ډاډ دے او خانګونه
كَالْجَوَابِ وَقُدُوْرٍ رّٰسِيٰتٍ ؕ اِعْمَلُوْٓا اٰلَ
چې ډنډونو ته وو او دېګونه ولاړ په ځپل ځائي باندې عمل کوئي اے اولاد
دَاوٗدَ شُكْرًا ؕ وَقَلِيْلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُوْرُ ﴿۱۳﴾
دَ داؤد عليه السّلام دَ شکر کولو او لږ دي دَ بندګانو زما نه شکر ګذار۔

بيا په دَ اسطرنه روان شو نو شپه په ئې اوکړه په کابل کښ او دا هم دَ مياشت منزل دے۔ وَاَسَلْنَا لَهٗ عَيْنَ الْقِطْرِ يعني تانبه په ځپل کان کښ دَ چينې دَ اوبو پشان بهيدونکے وه دَ پاره دَ اباد ئې وغيره په اور باندے ويلے کولو ته ضرورت نه وؤ او دا هم معجزه وه نو الله تعالىٰ ځان ته نسبت کړے دے۔ وَمِنَ الْجِنِّ عطف دے په الريح باندے يعني وسخرنا من الجن۔ مَنْ يَّعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بعض عملونه روستو ايت کښ ذکر کوي او بعض په سورة ص ٣٧ کښ ذکر دي۔ بِاِذْنِ رَبِّهٖ په دے کښ اشاره ده چه دَ دغهٔ سره (سِحر) جادو نه وؤ لکه چه يهوديان وائي بلکه دَ الله تعالىٰ اذن وؤ۔ وَمَنْ يَّزِغْ مِنْهُمْ عَنْ اَمْرِنَا۔ امر دَ سليمان عليه السلام امر دَ الله تعالىٰ دے مِنْ عَذَابِ السَّعِيْرِ مراد ترينه اور دَ جهنم دے يا مراد په دنيا کښ چه ملائک په دے جنانو باندے مقرر ووچا به چه دَ حکم دَ سليمان عليه السّلام نافرمانی اوکړله نو دَ اور په چابک (کروړه) باندے به ئې وهلو۔

سـ۱۳۔ په دے کښ تسخير دَ جن او دَ هغوي کارونه ذکر کوي۔ مَحَارِيْبَ۔ محراب په بني اسرائيلو کښ خاص عبادت خانه دَ امام او عالم دَ پاره وه يا مراد ترينه اوچتې اباد ئې دي يا مراد ترينه مساجد دي او په دے کښ مسجد بيت المقدس هم داخل دے چه دا هم جنانو جوړ کړے وؤ ليکن محراب زمونږ دَ زمانے ترينه مراد نه دے۔ وَتَمَاثِيْلَ مراد دَ دے نه نقش و نګار دے دَ اونو او بوټو په شکلونو جوړ ولو سره۔ او چا چه ويلے دي چه مراد دَ دے نه تصاوير دَ انبياؤ او بزرګانو وؤ چه دوي به په عبادت خانو کښ کيخودل صرف دَ رغبت دَ پاره او دا دَ دوي په دين کښ جائز وو دا قول صحيح نه دے دَ دے په خلاف باندے هغه حديث صحيح اولئك اذا مات فيهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجدا وصوروا فيه تلك الصور اولئك شرار الخلق عند الله (مشكوٰة) دَ دے نه (رپاتے په بل مخ)

فَلَمَّا قَضَيْنَا عَلَيْهِ الْمَوْتَ مَا دَلَّهُمْ عَلَىٰ

نو هركله چه فيصله اوكړه مونږ په هغه باندے دَ مرګ نو خبر ورنكړو دوى ته هيڅ

مَوْتِهِ إِلَّا دَابَّةُ الْأَرْضِ تَأْكُلُ مِنسَأَتَهُ

مرګ دَ هغهٔ مګر یو چینجی دَ زمکے (ویته) چه خوړله يې همسا دَ هغه

فَلَمَّا خَرَّ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ أَن لَّوْ كَانُوا

نو هركله چه هغه راپریوتلو ښکاره شو حال دَ پیریانو چه که چرے دوی

معلومیږی چه مسجدونه په قبرونو باندے جوړول او په هغې کښې دَ نیکانو تصاویر جوړول دواړه کارونه دَ شرک او دَ فساد عمل دے۔

وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ جفان جمع دَ جفنه دے لوے خانک (پرات) ته وائي. جواب جمع دَ جوبة دے لوے حوض ذاوبو ته ویلے کیږی. یعنی لښکر او نوکران او میلمانه به دَ سلیمان علیه السّلام ډیر زیات وو دَ هغوی دَ خوراک دَپاره لوے لوے لوښی پکار وو. وَقُدُورٍ رَّاسِيَاتٍ هرکله چه دَ خانکونو حال یې بیان کړو نو اوس دَ دیګونو حال بیانوی چه هغه دومره غټ وو چه دَ ځائے نه به چا نه شو خوځولے صرف بخلے په پکښې کیدلو بل طرف ته یې اوړل او نقل کول ګران کار وؤ۔

اِعْمَلُوٓا اٰلَ دَاوٗدَ یعنی دَ لوے حکومت او ډیرو معجزاتو سره هم هغه مکلّف وو په عبدیت دَ الله تعالیٰ سره۔ شُكْرًا په دے کښې تفسیر سراج المنیر شپږ ترکیبونه ذکر کړیدی. یعنی مکلّف وو په شکر کولو سره۔

وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ۔ شکور یې په صیغه دَ مبالغې سره دَ دے وجې نه ذکر کړو چه لږ شکر کوؤنکی خو مشرکان او کافران هم دی هغوی هم په حالت دَ اضطرار کښې دَ الله تعالیٰ شکر کوی لیکن چه هر وخت او په هر نعمت او په هر قوت یعنی په ژبه او زړه او اندامونو او مال سره دَ الله تعالیٰ شکر اداکوی نو دا ډیر لږ خلق دی دَ دے وجې نه قرآن کښې دَ مشرکانو او ناشکرو او بې عقلو او بے علمو ذکر یې په لفظ دَ أکثر سره کړے دے۔

يَعْلَمُوْنَ الْغَيْبَ مَا لَبِثُوْا فِي الْعَذَابِ

پوهېدلے په غیبو باندے نو نه به وو ایسار شوی په سخت کار د تو

الْمُهِيْنِ ﴿١٤﴾ لَقَدْ كَانَ لِسَبَاٍ فِيْ مَسْكَنِهِمْ

ذلیلوونکو کښې. یقینًا وو دَپاره دَ سباوالو په کورونو دَ هغوی کښې

ف ۱۴:- په دے ایت کښې ذکر کوی معجز دَ سلیمان علیه السلام په دوه طریقو سره اول داچه په دهٔ باندے مرګ راغلے دے دَ مرګ نه یځ ځان نه شو بچ کولے دویم داچه روستو دَ مرګ نه هیڅ حرکت او اختیار و قدرت په کښې نه وو ځکه چه همسا کمزورے شوه دَ دهٔ دَ ټینګولو نه نو دے په زمکه باندے راوغورځیدلو نو معلومه شوه چه مرده ګان دَ هیڅ امداد او حاجت روائۍ نه شی کولے دَ ځان اختیار نه لری نو دَ بل چا سره په څه امداد اوکړی۔
او دا رنګ په دے ایت کښې ذکر کوی حال دَ جنّاتو چه دوی هم په غیب باندے نه پوهیږی نو په دے سره جواب دَ دریمے شبهے دے په باره دَ جناتو کښې چه دَ بعضو خلقو په بنی اسرائیلو او دا رنګ په دے امت کښې هم دا عقیده ده چه پیریان په غیبو باندے خبردی نو په دے ایت کښې دَ هغوی جواب او شو چه دَ سلیمان علیه السّلام دَ مرګ نه تر یو کال پورے هم دوی خبر نه وو ـ بیا دَ دے اسباب مفسرینو دوه ذکر کړیدی اول داچه په انسانانو کښې په هغه وخت کښې مشهوره وه چه جنات په غیب باندے پوهیږی نو سلیمان علیه السّلام دَ خپل مرګ په وخت کښې داسے کار اوکړو او دَ الله تعالیٰ نه یځ سوال هم اوکړو چه زما مرګ دَ دوی نه پټ اوساتے دَ پاره دَ دے چه دَ خلقو دَ زړونو نه دا غلطه عقیده ختم شی ۔
دویم سبب دا وو چه سلیمان علیه السلام دَ جناتو په ذریعه سره دَ بیت المقدس اَبادی کوله اګرچه اَبادی دَ هغه په ژوند کښې ختم شوه لیکن دَ هغے دَ کمال او اتمام دَ پاره کښې څه عمل دَ پیریانو باقی پاتے شوے وو نو دهٔ دَ الله تعالیٰ نه دُعاء اوکړه چه زما مرګ دَ جناتو نه یو کال پورے پټ اوساتے دَ پاره دَ دے چه دا کار پوره کړی ځکه چه هغوی دَ سلیمان علیه السّلام دَ ویرے نه کار و نه کول ۔ او دَ نسائی دَ حدیث صحیح نه معلومیږی چه سلیمان علیه السلام اَبادے دَ مسجد نه فارغ شوے وو لیکن دَ هغے متعلق څه اعمال باقی پاتے وو ۔ او قرطبی نقل کړے دی چه صحیح سندونو سره ثابت ده چه سلیمان علیه السّلام تر یو کال پورے په همسا باندے ولاړ وو ۔ تَبَيَّنَتِ الْجِنُّ اَنْ یو معنی دا ده چه پیریانو ته (پاتے په بل مخ)

اٰيَةٌ جَنَّتٰنِ عَنْ يَّمِيْنٍ وَّشِمَالٍ كُلُوْا

دليلونه دَ توحيد باغونه دوه دَ ښي طرف او دَ كس طرف نه خورئ

مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَاشْكُرُوْا لَهٗ بَلْدَةٌ

دَ روزئ دَ رب ستاسو نه او شكر كوئ هغه لره دا ښار ستاسو

طَيِّبَةٌ وَّرَبٌّ غَفُوْرٌ ﴿۱۵﴾ فَاَعْرَضُوْا فَاَرْسَلْنَا

دَ مزو نه ډك دے او رب بخنه كوونكے دے۔ نو دوى مخ واړوه دَ توحيد نه نو رااوليږل مونږ

خپل حال ښكاره شو چه دوى علم غيب نه لرى دويمه معنىٰ دا ده چه انسانانوته ښكاره شوه په باره دَ پيريانو كښ چه دوى په غيب باندے نه پوهيږى په روستنى معنىٰ باندے اَنْ لَّوْ كَانُوْا بدل اشتمال دے دَ الجن نه۔ الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ، مراد دَ دے نه اباد ئ او نور سخت كارونه دى چه جناتو به دَ سليمان عليه السلام دَ ويرے كول ځكه ئے تعبير په عذاب سره كړے دے۔

سبا ۱۵ :۔ دا نمونه ده دَ تخويف دنيوى په حال دَ اهل سبا سره دَ پاره دَ منكرينو روستو دَ جواب دَ شبهاتو نه اوپس دَ دليل نقلى نه۔ او دا رنګ مخكښ حال دَ هغه بادشاهانو ذكر شو چه شكر كندار وو اوس حال دَ هغه مالدارو ذكر كوى چه نا شكره وى۔ لِسَبَاٍ دا نوم دَ مشر دَ قبيلے وو چه هغه سبا بن عبد شمس بن يشجب بن يعرب بن قحطان وو او دَ هغهٔ نسل ته هم اهل سبا ويلے كيږى۔ بعضے روايا تو كښ راغلى دى چه دَ سبا شپږ ځامن وو شپږ په يمن كښ اباد وو او څلور په شام كښ۔ فِىْ مَسْكَنِهِمْ په دے لفظ كښ اشاره ده چه دَ دوى په ملك كښ ډير اسباب دَ ارام وو۔ مفسرينو ويلے دى چه دا دَ صنعاء اليمن نه درے فرسخه مآرب مقام وو او بقاعى ويلے دى چه دَ غه علاقه او صحراء دے صنعاء ته نزدے ده اٰيَةٌ دليلونه دَ قدرت او دَ توحيد دَ الله تعالىٰ۔ مَسْكَن او اٰيَةٌ مفرد په معنىٰ دَ جنس سره دے۔ جَنَّتٰنِ مراد دَ دے نه ډير اقسام دَ باغونو دى صرف دوه نه دى مراد۔ بَلْدَةٌ طَيِّبَةٌ اب وهوا ئے صحت مند وه زهريلى حيوانات پكښ نه وو خوره تاكه زمكه پكښ نه وه۔ وَرَبٌّ غَفُوْرٌ بخنه كوى شكر كوونكو لره اګرچه مالدار وى۔

عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ وَبَدَّلْنٰهُمْ بِجَنَّتَيْهِمْ

په دوی باندے سیلاب دَ بند ترلے شوی او ورکړومونږ دوی ته په بدل دَ باغونو دَ دوی کښ

جَنَّتَيْنِ ذَوَاتَيْ اُكُلٍ خَمْطٍ وَّاَثْلٍ وَّشَيْءٍ

نور باغونه چه په هغې کښ بے خونده میوے وے او غزان وو
او یو قسم وُو

مِّنْ سِدْرٍ قَلِيْلٍ ⑯ ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ

دَ بیرو نه لږ وے.
دا سزا ورکړه مونږ دوی ته

سلا :- په دے ایت کښ یُے سبب دَ عذاب او تفصیل دَ عذاب ذکر کړے دے فَاَعْرَضُوْا دا سبب دَ عذاب دے. بعض روایاتو کښ دی چه دوی ته دیارلس[۱۳] انبیاء راغلی وو او دوی ته یُے توحید بیان کړے وُو لیکن دوی ترینه مخ اوګرځوُو. فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ سَيْلَ الْعَرِمِ دا ذکر دَ عذاب دے. یعنی دوی یو لوئے بند جوړ کړے وُو او په هغې کښ بارانی اوبه یا دَ یو سیند اوبه جمع کړے وے او دَ هغې نه یُے نهرونه جُدا کړے وو په هغې سره یُے باغونه فصلونه اوبه کول او دیته دیم ویلے کیږی. نو هغه بند (دیوال) کښ سورے اوشو او بند مات شو او اوبه دَ سیلاب په طور سره دَ دوی په باغونو او ابادو باندے راغلے او هر کله چه دا عذابِ الٰهی وُو نو هغه اوبو کښ زهریلی ماده هم پیدا شوه هغه باغونه یُے بے کاره کړل او دَ هغې میووُ نه یُے خوګوالے ختم شو او بے خونده شوے. اُكُلٍ خَمْطٍ مبرّد وائیُ چه میوه دا سے حالت ته بدله شی چه اشتها ورته دَ چا نه کیږی نو هغې ته خمط وائیُ. او ابو عبید وائیُ هغه اونه ازغی داره چه ترخه وی خوړلے کیدے نشی هغې ته خمط وائیُ. وَّاَثْلٍ دا عطف دے په اُكل باندے ځکه چه دَ غز اونه کښ میوه نیشته او دَ هغې لرګے اوسورے بے فائدے وی. او په دے کښ یو قسم دے هغې ته طرفاء ویلے کیږی دَ هغې دَ لرګی نه منبر دَ نبی صلی اللّٰه علیه وسلّم جوړ کړے شوے وُو. سِدْرٍ قَلِيْلٍ دا دوه قسمه دی یو ته بیره ویلے کیږی دَ هغې میوه کوکنړے دی او یو قسم ته جاړه ویلے کیږی په هغې کښ ازغی زیات وی او دانے پکښ نوی یا بیکاره وی او په صحرا کښ وی دلته دا روستو قسم مراد دے او هغه هم ډیرے لږے وی ځکه چه شَيْءٍ او قَلِيْلٍ دواړه په کموالی باندے دلالت کوی.

بِمَا كَفَرُوْا ۭ وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ ﴿۱۷﴾

په وجه د کفرکولو د دوی او دا سے سزا نه ورکوو موږ مګر ډیر منکر ته.

وَجَعَلْنَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا

او جوړ کړے موږ په مینځ د دوی او د هغه کلو کښ چه برکات اچولے دی موږ

فِيْهَا قُرًى ظَاهِرَةً وَّقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ ۭ

په هغے کښ کلی یو بل ته ښکاره او اندازه کړے وو موږ په هغے کښ منزل

سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ وَاَيَّامًا اٰمِنِيْنَ ﴿۱۸﴾

ګرځئ په هغے کښ د شپے او د ورځے په امن سره.

سـ۱۷:- په دے کښ تفسیر د اعرضوا دے یعنی اعراض کفر دے. وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ په دے کښ اشکال دا دے چه د دے جملے نه معلومه شوه چه سزا صرف کافرانو ته پورے خاص ده مؤمن ته په ګناه کولو هیڅ سزا نه ورکیږی او دا د نورو ایاتونو او احادیثو نه خلاف ده. اول جواب دا دے چه دلته مراد د سزا نه استیصالی (د بیخ کندنے) سزا ده لکه چه په اصحاب سبا باندے راغلے وه دغه سزا خاص ده په کافرانو پورے. دوېم جواب دا دے چه مجازاة ویلے کیږی پوره سزا ته یعنی هیڅ ګناه ورته معاف نه کړی بلکه د هر ګناه سزا ورکړی دا خاص ده په کافر پورے ځکه چه د مؤمن بعضے ګناهونه په عبادتونو یا په صرف فضل د الله تعالیٰ سره معاف کیږی د هر ګناه سزا نه ورکوی.

سـ۱۸:- په دے ایت کښ ذکر د بل انعام دے په اهل سبا باندے، چه مراد د هغه امن دے په سفر کښ چه د یمن نه تر شام پورے په لارے باندے هیڅ تکلیف او یره نه وه او د اوږد سفر توښه اوړلو ته هم حاجت نه وو کلی او ابادی یو بل ته نزدے نزدے وو. الْقُرَى الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا، مراد د دے نه شام، فلسطین، اردن وغیره وو چه په هغے کښے میوے غلے ډیرے وے اب وهوا ئے هم ښه وه او اوسیدونکی پکښ هم ډیر وو. قُرًى ظَاهِرَةً مراد د دے نه دا دے چه کلی یو بل ته داسے نزدے وو چه د یو کلی نه په مسافر او تللو نوبل کلے په ورته ښکاره کیدلو او هغه کلے په اوچت اباد وؤ. بعض مفسرینو لیکلے دی چه د یمن (سبا) نه تر شام پورے په لارے باندے څلور زره اووه سوه کلی اباد وو. وَقَدَّرْنَا فِيْهَا السَّيْرَ. یعنی د یو کلی نه تر بل کلی پورے د اندازے سفر وؤ

فَقَالُوْا رَبَّنَا بٰعِدْ بَيْنَ اَسْفَارِنَا وَظَلَمُوْٓا

نو دوی اُوویل اے ربه زموږ لرے والے راولے په مینځ دَ سفرونو زموږ کښی او ظلم اوکړو دوی

اَنْفُسَهُمْ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ وَمَزَّقْنٰهُمْ

په ځانونو خپلو بانډے نو اوګرځول مونږ دوی قصے دَ عبرت او ذرے ذرے مو کړل

كُلَّ مُمَزَّقٍ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

په پوره ذرے کولو سره، یقینًا په دے کښی ډیر دلیلونه دی

لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ⑲ وَلَقَدْ صَدَّقَ

هر ډیر صبر ناک شکر ګذار لره. او یقینًا رښتنی اوموندلو

چه مسافر به په هغے کښی نه ستړے کیدوا و نه لوګه تنده وه بلکه دَ یو کلی نه تر بل کلی پورے اته میله یا دولس میله مسافت وؤ۔ سِيْرُوْا فِيْهَا لَيَالِيَ دَ شپے په سفر کښی خطره زیاته وی لیکن دوی ته هیڅ خطره نه وه دَ دے وجے نه لیالی یے مخکښی ذکر کړو یعنی پوره امن وؤ۔

سلا۱۹:۔ په دے ایت کښی دَ دوی ناشکری او بیا عذاب ذکر کوی۔ او دَ نعمت دَ بدلیدلو سوال دا سے وؤ لکه چه بنی اسرائیلو دَ من او سلوی په بدل کښی دَ زمکے نباتات غوښتلے وو او کافرانِ مکه دَ امن په بدل عذاب دَ الله تعالیٰ غوښتلے وؤ لکه سورة انفال سلا۳۲ کښی، نو دَ دوی دُعاګانے قبولے شوے او هغه کلی او اباد ئے کیمے شوے او وراݩے شوے او دَ یو بل نه لرے شول۔ وَظَلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ یعنی دَ نعمتونو دَ الله تعالیٰ ناشکری اوکړه نو په ځان یئے هغه نعمتونه بند کړل۔ فَجَعَلْنٰهُمْ اَحَادِيْثَ۔ یعنی قصے دَ عبرت چه خلق ئے په خپلو خبرو کښی په طریقه دَ مثال سره ذکر کوی۔ وَمَزَّقْنٰهُمْ یعنی په مختلفو ملکونو کښی تقسیم شول ځوک شام ته لاړل ځوک عمان ته ځوک عراق ته ځوک تهامه ته لاړل او عمرو بن عامر چه دَ اوس او خزرج نیکه وؤ هغه مدینے منورے ته راغے۔ صَبَّارٍ شَكُوْرٍ مراد دَ دے نه مؤمن دے ځکه چه لږ صبر او شکر کله کله کافر او مشرک هم کوی۔ یعنی ځوک چه سرۀ دَ وسعت او فراخ دَ مالونو نه دَ الله تعالیٰ په توحید او اطاعت بانډے کلک او پوخ وی او دَ نعمتونو پوره شکر ګذار وی نو هغه دَ دے واقعے نه ډیر عبرتونه حاصلولے شی۔

عَلَيْهِمْ اِبْلِيْسُ ظَنَّهٗ فَاتَّبَعُوْهُ اِلَّا فَرِيْقًا

په دوی باندے ابلیس گمان خپل نو روان شول په هغے پسے مگر یو ډله

مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۰﴾ وَمَا كَانَ لَهٗ عَلَيْهِمْ

دَ مؤمنانو نه . او نه وو ابلیس لره په دوی باندے

سـ۲۰ ـ دا بیان دَ سبب دَ حال دَ سبا والو دے یعنی دوی اعراض او ناشکری اوکړه او عذاب وریاندے راغے دا په سبب دَ تابعدارے دَ ابلیس سره وَلَقَدْ صَدَّقَ یعنی وجدہ صادق یعنی کوم گمان یئے چه کړے وو هغه یئے رشتیا اومنلو خطا نه شو . صدق مقابل دَ خطا دے . عَلَيْهِمْ ضمیر اهل سبا ته راجع دے یا عام انسانانو ته راجع دے . ظَنَّهٗ په دے کښ اشکال دا دے چه ابلیس چه دَ اولاد آدم دَ گمراه کولو دَ پاره کوم صیغے استعمال کړے دی هغه ټولے په لام او نون ثقیلہ سره مؤکد دی لکه سورة اعراف سـ۱۶ سـ۱۷ سورة حجر سـ۳۹ سورة بنی اسرائیل سـ۶۲ سورة نساء سـ۱۱۸ سـ۱۱۹ کښ دلالت کوی په یقین باندے نو ظن یئے ولے اوئیل ؟ جواب دا دے چه په راتلونکے زمانه کښ کوم کار مخلوق کوی هغه یقینی نشی کیدے ځکه چه مخلوق په غیب باندے نه پوهیږی لیکن دَ پوخ عزم او ارادے په وجه باندے هغه صیغه دَ تاکید استعمال وی . فَاتَّبَعُوْهُ دا بیان دَ صدق دے . اِلَّا فَرِيْقًا مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه مِنْ بیانیه دے ټول اهل ایمان مراد دی او اتَّبَعُوْهُ نه مراد تابع کیدل دی په شرک او کفر کښ معنیٰ دا ده چه تابعداری اوکړه دوی دَ ابلیس په شرک او کفر کښ مگر یوه ډله چه مؤمنان دی هغوی دغه تابعداری نه ده کړے .
دوئم قول دا دے چه مِنْ دَ تبعیض دے بعض مؤمنان مراد دی او اتبعوہ نه مراد تابعداری کول په هر قسم گناه کولو کښ ، معنیٰ دا ده چه دوی پوره تابعداری دَ ابلیس اوکړه مگر یوه ډلے دَ مؤمنانو نه چه هغوی معصوم او پاک دی او هغه پیغمبران دی . نو دا آیت دلیل دے په عصمت دَ انبیاؤ علیهم السلام باندے ځکه چه هغه فریق چه دَ ابلیس هیڅ قسم تابعداری یئے نه وی کړی دَ انبیاؤ نه سوا بل څوک کیدے نشی او که انبیاء گنهګار ثابت شی نو په انبیاؤ باندے به دَ بل چا فضیلت راشی او دا باطله خبره ده .

مِنْ سُلْطٰنٍ اِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يُّؤْمِنُ بِالْاٰخِرَةِ

هیڅ زور مګر (مقرر کړے دے موږ) دَدے دَپاره چه جدا کړو موږ هغه څوک چه ایمان په آخرت باندے لری

مِمَّنْ هُوَ مِنْهَا فِيْ شَكٍّ ۗ وَرَبُّكَ عَلٰى كُلِّ

دَ هغه چانه چه دَ هغے نه په شک کښ دی، او ستا رب په هر

شَيْءٍ حَفِيْظٌ ﴿۲۱﴾ قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ

څیز حفاظت کوونکے دے۔ ته اُووایه را اوبلے هغه کسان چه ګمان کوئے تاسو معبودان

ع ۲ / ۸

مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۚ لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ

سوا دَ الله تعالیٰ نه اختیار نه لری په قدر دَ یوے ذرے

فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْاَرْضِ وَمَا لَهُمْ

په آسمانونو کښ او نه په زمکه کښ او نیشته دوی لره

سا۲۱: په دے سره وهم دفعه کوی یعنی دا وهم څوک اونه کړی چه ابلیس په دے خلقو باندے په خپل اختیار سره مسلط او مقرر دے؟ دَ سُلْطَانٍ نه مراد تسلط او مقرر کیدل دی دا دَ ابلیس په اختیار کښ نه وه بلکه الله تعالیٰ مسلط کړو دَپاره دَ امتحان دَ بنی آدمو او علیهم ضمیر بنو لو بنی آدمو ته راجع دے نو اِلَّا لِنَعْلَمَ سره تقدیر دَ عبارت دا دے یعنی لکن سلّطناه علیهم لتعلم الخ - یا دَ سلطان نه مراد حجت دے یعنی دَ ابلیس دَپاره په دے بنی آدمو ګمراه کولو باندے هیڅ حجت نیشته لیکن بے حجته ئے ګمراه کوی - یا دَ سلطان نه مراد ګمراه کول کوی او علیهم ضمیر فریقا من المؤمنین ته راجع دے چه دوی لره نشی ګمراه کولے لکه سورة حجر سا۴۲ کښ تیر شوی دی - لِنَعْلَمَ، فراء بغوی ویلے دی چه دا علم په معنیٰ دَ تمیز سره دے او علم خو الله تعالیٰ ته دَ دے نه روړاندے شته - او هر کله چه اصل مقصد دَ ابلیس (وُرچه خلقو لره دَ قیامت په باره کښ شک کښ واچوی ځکه چه ټولو ایمانیاتو او عباداتو دار و مدار په عقیده دَ قیامت کښ دے) نو دَ دے وجے نه دلته ئے مَن یومن بالآخرة الخ ذکر کړے دے او معلومه شوه چه شک کول دَ قیامت په باره کښ هم کفر دے۔

فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَّمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ ﴿٢٢﴾

په دے دواړو کښې هيڅ برخه | او نشته الله لره د دوی نه څوک مددګار.

سبا ۲۲. د دے ايت نه تر سبا ۳۴ پورے دريم باب دے په دے کښې د څلورو شبهو جواب دے چه هغه بيان د عجز د ملائکو دے او د شرک د بندولو څلور طريقې ذکر کړے دی. بيا درے طريقې د تبليغ او تعليم. بيا د منکرينو د رسالت جوابونه او زجرونه دی بيا تخويف اخروی دے په براءت د آلِهو باطلو د عابدانو خپلو نه.

په دے (سبا ۲۲) کښې ذکر د طريقې د رد دے په مشرکانو باندے په درے طريقو سره او ربط ئې د مخکښې سره دا دے چه د ابليس اول تصديق د ظن دا دے چه انسان ئې په شرک کښې مشغول کړے وی نو د هغوی پوهه کول په دے طريقې سره پکاردی چه قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ او ادعو حکم د پاره د زورنے دے. او د زَعَمْتُمْ مفعول حذف دے (چه دوی الِهه دی) يعنی دوی ته رامدد شه او ائې د پاره د دے چه تاسو ته نفع درکړی يا درته تکليف لرے کړی لکه چه ستاسو خيال دے نو جواب د دے پتا دے چه دوی د دے اختيار او طاقت نه لری د دے وجے نه چه لَا يَمْلِكُوْنَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ اه هر کله چه حاجتونه د انسانانو د اسمان او زمکے سره تعلق لری د دوی نه بهر نيشته د دے وجے دواړه ذکر کړل. دا رنګ د دوی الِهه بعضے اسمانی دی لکه ملائک او بعضے د زمکے دی.

وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ يعنی که څوک اوائې چه د دے الِهو اګرچه ملکيت نيشته ليکن کيدے شی چه الله تعالیٰ ورته حصّه ورکړے وی چه هغوی ته حصه دار او برخه والا وبلے کيدے شی نو په دے جملے سره ئې جواب اوکړو چه الله تعالیٰ دوی لره هيڅ برخه هم نه ده ورکړے نو دوی به تاسو له څه درکړی؟

وَمَا لَهٗ مِنْهُمْ مِّنْ ظَهِيْرٍ يعنی که څوک خيال اوکړی چه دوی به د الله تعالیٰ سره په څه کار او تدبير د دنيا کښې مدد او او ملګرتيا کړے وی د دے وجے نه کيدے شی چه دوی بل چاله څه حاجت پوره کړی نو په دے جملے سره د دے جواب ئې اوکړو او دا جواب سورة کهف ۵۱ کښې هم موجود دے.

وَلَا تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُۥ ۚ

او نفع نه ورکوی سفارش په نیز د الله تعالیٰ مګر هغه چاته چه اجازت ورکړی د هغه ډپاره (دعوی به ویره کښ وه)

حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمْ قَالُوا۟ مَاذَا قَالَ

تر هغې پورې چه لرې کړې شی ویره د زړونو د هغوی نه وائی دوی څه اُویل

رَبُّكُمْ ۖ قَالُوا۟ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿۲۳﴾

رب ستاسو او بیا وائی پورته ملائیک چه اُویل ئې حق او هغه پورته دے ډیر لوے ذات دے۔

۲۳:۔ په دے کښ رد دے په هغه شبهه څلورمه چه ملائک خو شفیع (قهری) کیدے شی نو دوی د بندګئ حق داردی نو عجزد ملائکو ذکر کوی او دا رنګ د مشرکانو د څلورمے عقیدے رد دے دوی وائی چه داالهه اګرچه پخپله هیڅ ملکیت نه لری لیکن زمونږ حاجتونه په الله تعالیٰ باندے مجبورًا پوره کوی په طریقه د سفارش کولو سره الله تعالیٰ د دوی د محبت یا محوریزے (عظمت) نه مجبوره شی د جواب حاصل دادے چه بغیر د اذن د الله تعالیٰ نه د دوی سفارش کول نیشته او تهٔ فائده شته او د الله تعالیٰ عادتِ کریمه دادے چه د مشرکانو د پاره د سفارش کولو اذن چالره نه ورکوی۔ وَلَا تَنفَعُ په دے کښ نفی د اثر او د فائدے د شفاعت ده ځکه چه مقصد د شفاعت غوښتونکو نفع ده لیکن مراد تری نه نفی د شفاعت ده۔ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ اه۔ دا حال د شفعاؤ دے په وخت د نزول د اذن د شفاعت کولو کښ۔ یعنی دوی لره چه کوم وخت اذن د شفاعت ورکیدے شی نو دوی به په دغه وخت کښ په ډیر فزع او هیبت کښ وی د وجے د عظمت د الله تعالیٰ نه نو هرکله چه (لږ ساعت روستو) دا هیبت د دوی د زړونو نه لرے کړیشی نو دوی به هغه ملائکو ته تپوس اوکړی څوک چه دوی لره اذن د الله تعالیٰ (رسوی چه الله تعالیٰ څه حکم اوکړو نو هغه ملائک به دوی ته اوائی چه (الحق) یعنی د موحدینو د شفاعت د پاره ئې اذن اوکړو۔ دویمه توجیه داده چه دا حال د ملائکو دے په دنیا کښ، هرکله چه الله تعالیٰ څه حکم نازلوی نو دا ملائک په ډیر هیبت کښ وی نو هرکله چه دا هیبت د دوی د زړونو نه لرے کړے شی نو (لاندنی ملائک د بره ملائکو (حکم راوړونکو ته) تپوس اوکړی چه الله تعالیٰ څه حکم اوکړو نو هغوی ورته اوائی چه (الحق) (الله) دے حق حکم۔ او هم دا رنګ حدیث د ابو هریره رضی الله عنه مرفوع امام ترمذی ریاتے په بن مخ)

قُلْ مَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ته اُوایه څوک روزی درکوی تاسو ته دَ آسمانونو نه او دَ زمکې نه

قُلِ اللّٰهُ ۙ وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ لَعَلٰى هُدًى

ته اُوایه الله تعالیٰ او یقیناً مُونږ یا تاسو ضرور په هدایت باندے یو

اَوْ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۲۴﴾ قُلْ لَّا تُسْـَٔلُوْنَ

یا په ګمراهۍ ښکاره کښې . ته اُوایه تپوس نشی کیدلے ستاسو نه

نقل کړیدے ۔حاصل دَ دواړه توجیهاتو دادے چه شفاعت کوونکی خو بیرعاجز دی ویره کوونکی دی دَ الله تعالیٰ نه نو دوی به څرنګه شفاعت قهریه (بے اجازته) اوکړیشی لکه چه مشرکان یُے عقیده لری ۔ فُزِّعَ دا فعل په معنیٰ دَ سلب الماخذ دے یعنی اُزِیل الفزع (لرے به کړے شی هیبت) ۔

۲۴: روستو دَ رد کولو دَ طریقو دَ شرک نه الزامی او اعتراقی دلیل ذکر کوی په رد دَ مشرکانو چه دَ رزق انتظام کوونکے صرف الله تعالیٰ دے نو بیا دَ هغهٔ نه سِوا دَ نورو نه ولے حاجتونه غواړئ ؟

قُلِ اللّٰهُ یعنی دوی به دَ عناد دَوجے نه چپ وی دَ جواب کولو نه ، نو ته ورته جواب اوښایه ۔

وَاِنَّآ اَوْ اِيَّاكُمْ دا طریقه دَ تعلیم او تبلیغ ده یعنی مشرکان چه اوائی چه مونږ او تاسو یو شان یو هیڅ فرق نیشته یا اوائی چه دا اختلافی مسئلے دی مونږ پوهه دے اختلافی خبرو کښې برخه نه اخلو نو جواب یُے دادے چه دا سے نه ده بلکه دا دواړه فریقه دَ یو بل سره متضاد دی یو فریق په هدایت او بل په ګمراهۍ کښې دے یعنی دا اصولی اختلاف دے فرعی اختلاف نه دے په دے کښې به تاسو ضرور یو طرف ته کیږئ ۔

(تنبیه) دَ هدایت سره یُے علیٰ ذکر کړو او دَ ضلال سره فی، اشاره ده چه هدایت والا اوچت وی او کلک وی په هدایت باندے او ګمراهۍ والا ډوب او غرق وی په تیارو دَ ګمراهۍ کښې ۔

عَمَّآ اَجْرَمْنَا وَلَا نُسْـَٔلُ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۲۵﴾

دَ هغه چه موږ جرم کړے وی او تپوس نشی کیدے زموږ نه دَ هغه عملو نو چه تاسو کوئے۔

قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا

ته اُوایه جمع به کړی موږ لره رب زموږ بیا به فیصله اوکړی په مینځ زموږ کښ

بِالْحَقِّ ؕ وَهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ ﴿۲۶﴾ قُلْ

په حقه سره او الله تعالیٰ ښه فیصله کوونکے دے پوره عالم دے۔ ته اُوایه

اَرُوْنِيَ الَّذِيْنَ اَلْحَقْتُمْ بِهٖ شُرَكَآءَ

اوښایئے ماته هغه کسان چه یو ځائے کړے دی تاسو دَ الله تعالیٰ سره شریکان

كَلَّا ؕ بَلْ هُوَ اللّٰهُ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۷﴾

هیچرے شی کیدے بلکه الله تعالیٰ زور اور حکمت والا دے۔

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيْرًا

او نه یئے لیږلے موږ ته مګر دَ ټولو خلقو دَپاره زیرے ورکوونکے

س۲۵:۔ دا بله طریقه دَ تعلیم ده او په دے کښ بیان دَ براءت دے۔ یعنی که
دوی اوائی چه ته دعوت کوے توحید ته دا لوئے جرم دے حاصل دَ جواب[ل]
دے که دا جرم زموږ وی نو تاسو باندے ذمه واری نیشته۔ او دا هم طریقه
دَ دعوت ده چه خپل ته یئے جرم اوئیل (دَ هغوی په ګمان) او دَ هغوی طرف
ته یئے صرف دَ عمل نسبت اوکړو۔
س۲۶:۔ دا بله طریقه دَ تعلیم ده۔ یعنی فیصله دَ دے خبرے چه کوم یو مجرم
دے او کوم یو حق باندے دے په قیامت کښ به کیږی۔
س۲۷:۔ دا بله طریقه دَ تعلیم ده او رد دے په شرک باندے یعنی طلب دَ
دلیل دے چه ستاسو په شرکاؤ کښ کوم وصف دے چه په هغے سره
تاسو دوی دَ الله تعالیٰ سره شریکان جوړ کړے دی۔ او کَلَّا نه مخکښ
عبارت پټ دے (دوی څه حاجت پوره کولے شی)۔

وَّنَذِيرًا وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾

او ډیره درکوونکی لیکن ډیر دَ خلقو نه پوهیږی.

وَيَقُولُونَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ إِنْ كُنْتُمْ

او دوی وائی کله به وی دا وعده که چرې تاسو یئ

صٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قُلْ لَّكُمْ مِّيعَادُ يَوْمٍ لَّا تَسْتَأْخِرُونَ

رشتنی. ته اُووایه تاسو لره نیټه مقرر دَ یو ورځ ده چه نه به شئ وروستو کیدلے

عَنْهُ سَاعَةً وَّلَا تَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٠﴾ وَقَالَ

دَ هغه نه یو ساعت او نه به شئ مخکښې کیدلے. او وائی

الَّذِينَ كَفَرُوا لَنْ نُّؤْمِنَ بِهٰذَا الْقُرْاٰنِ

کافران هیڅ کله ایمان نه راوړو مونږ په دے قرآن

ف۲۸:- روستو دَ اثبات دَ توحید نه دا اثبات دَ رسالت دے. کَآفَّةً دا په معنیٰ دَ عامةً او جمیعاً دے حال دَ النَّاسِ نه او دا حال جوړیدل دَ الناس نه ابوحیانؒ په البحر المحیط کښې صحیح ثابت کړے دے او رد ئے کړے دے په مفسر بیضاوی باندے او خطیب شربینی هم په تفسیر السراج المنیر کښې په دے باندے اعتماد کړے دے او دا رنګ په حدیث کښې هم وارد دی چه کَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلٰى قَوْمِهٖ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً. او دویمه توجیه دا ده چه کافة په معنیٰ دَ جامعًا دے حال دے دَ کاف دَ ارسلناک نه یعنی جمع کوونکے خلقو لره دین دَ توحید ته او ة دَ پاره دَ مبالغې ده او دریمه توجیه دا ده چه کافة په معنیٰ دَ مانع دے یعنی منع کوونکے خلقو لره دَ شرک او کفر نه.

ف۲۹:- هر کله چه صداقت دَ نبی بیان شو نو اوس زجر ورکوی منکرینو دَ رسالت او دَ قیامت ته یعنی دَ دوی خیال وو که ته رسول یئے نو غیب دان به یئے نو دَ دے وجے مونږ له دَ عذاب دَ وخت نه خبر راکړه هغه عذاب چه هغے کښې په نَذِيرًا کښې یا په يجمع بيننا سره اشاره شوې ده.

ف۳۰:- دا جواب دَ ما قبل دے لیکن سوال دَ دوی عنادی وو په طریقه دَ استهزاء کولو نو جواب یئے هم په طریقه دَ تهدید او دَ زورنے سره دے. يَوْمٍ مراد دَ دے وخت نه مرګ یا ورځ دَ عذاب یا ورځ دَ قیامت ده.

وَلَا بِالَّذِیْ بَیْنَ یَدَیْهِ ؕ وَلَوْ تَرٰۤی اِذِ الظّٰلِمُوْنَ

او نه په هغه کتابونو چه ددهٔ نه مخکښ دی ، او که چرے اُوینے ته هغه وخت ظالمان به

مَوْقُوْفُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ۚۖ یَرْجِعُ بَعْضُهُمْ

اودرولے شی په نیز د رب د دوی ، وگرځوی به بعضے د دوی

اِلٰی بَعْضِ ِۨ الْقَوْلَ ۚ یَقُوْلُ الَّذِیْنَ اسْتُضْعِفُوْا

بعضو ته جوابونه په داسے وائی هغه کسان چه کمزورے گڼلے شویدی

لِلَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْا لَوْلَاۤ اَنْتُمْ لَکُنَّا مُؤْمِنِیْنَ ﴿۳۱﴾

هغه کسانو ته چه لوئی ئے کړے ده که چرے نه وے تاسو نو وے به مونږ مؤمنان .

س ۳۱ :۔ دا یل زجر دے په انکار دَ قران او دَ نورو کتابونو اِلٰهیو سره . مخکښ په دوی په اهل کتابو باندے اعتماد کوؤ لیکن هرکله چه دَ هغوی نه ئے واوریدل چه زمونږ په کتابونوکښ رد دے په شرک باندے او ذکر شویدے صفت دَ دے رسول صلّی اللّٰه علیه وسلّم نو دے مشرکینو دَ هغوی دَ کتابونو نه هم انکار شورو کړو او تابعداری دَ خپلو مشرانو په دلیل کښ اونیوله ۔ وَلَوْ تَرٰۤی دا تخویف اخروی دے په براءت دَ الٰهو باطلو چه دَ دوی مشران وو او دَ لَوْ جزا پټه ده یعنی که دا حال دهٔ اولیدلو نو او به وینی ډیر هیبت ناک حالت لره ۔ الظّٰلِمُوْنَ تابعداران او دَ دوی متبوعین (مشرکان او میتبعین) یَرْجِعُ یعنی یو بل ته به جوابونه ورکوی دَ ملامته کولو او جهگړه به کوی ۔ یَقُوْلُ الَّذِیْنَ دا تفصیل دَ یرجع دے ۔ اسْتُضْعِفُوْا یعنی دوی په علم او په عقل کښ کمزوری وو او دَ مشرانو تابعداری ئے کوله او صیغه دَ مجهول ئے دَ دے وجے نه ذکر کړه چه دے مشرانو دوی ته علم نه خودلو جاهل ئے پریخودل دَ پاره دَ دے چه هغوی ترینه خپلے فائدے حاصلوی.
اسْتَکْبَرُوْا دَ حق متلو نه ئے ځان لوئے گڼړلو او په خپل علم او مال ئے فخر کولو او دوی متبوعان دی ۔ لَوْلَاۤ اَنْتُمْ یعنی که تاسو مونږ لره دَ حق نه نه منع کولے او مونږه مو نه گمراه کولے نو مونږ به ایمان راوړے وے ۔

قَالَ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتُضْعِفُوْٓا

اوپه وائی هغه کسان چه لوئی کړے ده هغه کسانو ته چه کمزوری کړے شوے وو

اَنَحْنُ صَدَدْنٰكُمْ عَنِ الْهُدٰى بَعْدَ اِذْ جَآءَكُمْ

آیا موږ منع کړے وے تاسو دَ هدایت نه روستو دَ هغے نه چه تاسو ته راغ

بَلْ كُنْتُمْ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

بلکه تاسو وئے مجرمان۔ او اویه وائی هغه کسان

اسْتُضْعِفُوْا لِلَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا بَلْ مَكْرُ الَّيْلِ

چه کمزوری کړے شویو هغه کسانو ته چه لوئی یئ کړے ده بلکه (منع کړے وو موږ دِ دعوت شپږ او ورځ)

وَالنَّهَارِ اِذْ تَاْمُرُوْنَنَآ اَنْ نَّكْفُرَ بِاللّٰهِ

او دَ ورځے کله چه تاسو موږ ته بیان کوؤ چه کفر دِ اوکړو په الله تعالی باندے

وَنَجْعَلَ لَهٗٓ اَنْدَادًا ؕ وَاَسَرُّوا النَّدَامَةَ

او جوړ دِ کړو موږه هغه لره شریکان۔ او بنکاره به کړی پښیمانی

لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ ؕ وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ فِيْٓ اَعْنَاقِ

هر کله چه اُوینی عذاب لره او وا یه چوو موږ طوقونه په سټونو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا

دَ کافرانو کیں۔ بدله نه شی ورکیں شے مگر

۳۲:۔ دا جواب دے دَ طرف دَ مشرانو یعنی موږ تاسو باندے څه زور نه دے کړے او نه هم څه صحیح دلیل پیش کړے دے بلکه تاسو دَ جرم کارونه خوښ کړے وو نو دَ دے وجه نه موږ پسے بے دلیله راروان وئے

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَمَاۤ اَرْسَلْنَا فِيْ قَرْيَةٍ

دَ هغه عملونو چه دوی کول. او نه دے لیږلے مونږ په هیڅ کلی

مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَاۤ ۙ اِنَّا بِمَاۤ اُرْسِلْتُمْ

کښ ویره ورکوونکے مګر اوبه ویل پړمستو خلقو یقیناً مونږ په هغه څیز چه تاسو رالیږلی شوی ئے

بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَقَالُوْا نَحْنُ اَكْثَرُ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا

په هغه انکار کوونکی یو. او دوی ویل مونږ ډیر مالونو او اولاد والا یو

ف۳۳:۔ دا جواب دَ طرف دَ کشرانو ته دے یعنی تاسو یه شیه او ورځ مونږ سره پټ چلونه کول او دعوت او تبلیغ به مو کولو نو هغه زمونږ دَ منع کیدلو سبب شو. او اِذْ تَاْمُرُوْنَنَاۤ دا دَ مکر تفسیر دے. وَنَجْعَلَ لَهٗۤ اَنْدَادًا دا دَ کفر تشریح ده.
وَاَسَرُّوا دا لفظ دَ اضداد دوته دے پټولو ته هم وئیلے شی یعنی په زړونو کښ به پښیمانه شی ځکه چه پښیمانه کیدل دَ زړه وصف دے او ښکاره کولو ته هم وائي ځکه چه اساریرالوجه نه ماخوذ دے یعنی دَ پښیمانتیا نښے به دَ دوی تندو او مخونو کښ ښکاره شی. او دا پښیمانتیا دَ دواړو ډلو به وی تابعداران به په ړوند تقلید دَ مشرانو باندے پښیمانه شی او مشران به په دعوت کولو دَ ګمراهئ باندے پښیمانه شی. وَجَعَلْنَا الْاَغْلٰلَ مفسر قرطبی لیکلی دی چه اغلال په اصل کښ هغې پټئ ته ویلے کیږی چه دَ څرمنے وی او په هغې باندے ویښته وی او بیا پکښ سپږے پیدا شی نو دا دَ ذلیلانو خلقو نښه ده او سپو ته اچولے کیږی. او هغه طوق ته وئیلے کیږی چه لاس دَ سټ سره راجمع کوی.
ف۳۴:۔ دَ دے ایت نه تر اخره پورے څلورم باب په دے کښ زجر دے په انکار دَ رسالت باندے او دَ انکار سبب ذکر کوی او دَ هغې جواب سره دَ بشارت او تخویف نه تر ف۳۹ پورے دے بیا تخویف اخروی په رد دَ مشرکین بالملائکه سره بیانوی بیا زجر دے په انکار دَ قرآن سره او تخویف دنیوی دے. بیا پنځه طریقے دَ تعلیم دی او په اخر کښ تخویف اخروی دے.
په دے (ف۳۴) کښ زجر دے په انکار دَ رسالت سره او هر کله چه مخکښ ایاتونو کښ ذکر شوه چه ګمراهانو مشرانو دا خلق ګمراه کړے دی په دعوت دَ شرک سره نو اوس ذکر کوی چه دغه مشرانو دعوت دَ انکار رسالت هم کړے دے دَ پاره دَ ګمراه کولو دَ کشرانو. مُتْرَفُوْهَا هغه کسان سرمایه دار چه هر وخت په نشه او مستئ دَ دنیا کښ مشغول وی نو د حق نه جاهل وی.

وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿٣٥﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَبْسُطُ

نه اوايه يقينًا رب زما فراخه وي
او نه يو موږ عذاب راکړے شوی.

الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ وَيَقْدِرُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ

ليکن ډير خلق
روزی چالره چه او غواړی او تنګوی

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٦﴾ وَمَا أَمْوَالُكُمْ وَلَا أَوْلَادُكُمْ ع ٤ ١٠

او نه دی مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو
پوهه نه لری .

بِالَّتِي تُقَرِّبُكُمْ عِنْدَنَا زُلْفَىٰ إِلَّا مَنْ

په داسے حال چه رانزدے کړی تاسو موږ ته په نزديکت سره مګر هغه څوک

آمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ لَهُمْ

چه ايمان ئې راوړے دے او عمل ئې کړے دے د سنت موافق، نو دغه کسان دوی لره

جَزَاءُ الضِّعْفِ بِمَا عَمِلُوا وَهُمْ

بدله دوچنده ده په وجه د عملونو د دوی او دوی به

فِي الْغُرُفَاتِ آمِنُونَ ﴿٣٧﴾ وَالَّذِينَ يَسْعَوْنَ

په بنګلو کښې وی امن والا به وی. او هغه کسان چه کوشش کوی

ف ٣٥:- په دے ايت کښ دليل د متکرينو ذکر کوی چه زمونږ مالونه او اولاد ډيردی او په موږ باندے هيڅ عذاب نيشته دا دليل دے چه په حقه باندے يو. وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ يعنی اوس هم په موږ باندے عذاب نيشته او هرکله چه په حقه باندے يو نو راتلونکے وخت په دنيا او په اخرت کښ به هم په موږ باندے عذاب نه راځئ.

ف ٣٦:- دا د دوی د دليل اول جواب دے چه د الله تعالیٰ نظام دے چه په تاسو کښ چالره فراخ رزق ورکړے دے او چالره تنګ رزق دا امتحان دے دا خو دليل د حقانيت نه دے. وَيَقْدِرُ کښ اشاره ده که چرے تاسو ټول په حقه باندے وئ نو په تاسو کښ بعضو له تنګ رزق ولے ورکړے شوے دے. او په دے ايت کښ د لمن يشاء نه مراد کافران دی.

ف ٣٧:- دا دويم جواب دے يعنی د کفر او د شرک په موجودګئ د چا مال او اولاد سبب د نزديکت الله تعالیٰ ته نشی کيدلے يعنی که مالونه ئې

فِیۡۤ اٰیٰتِنَا مُعٰجِزِیۡنَ اُولٰٓئِكَ فِی الۡعَذَابِ

په ایاتونو زموږ کښې مقابله کوونکی دغه کسان په عذاب کښې به

مُحۡضَرُوۡنَ ﴿۳۸﴾ قُلۡ اِنَّ رَبِّیۡ یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ

حاضر کړے شي. ته اُوایه یقینًا رب زما فراخوي روزي

لِمَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَیَقۡدِرُ لَهٗ ؕ وَمَاۤ اَنۡفَقۡتُمۡ

چا لره چه اوغواړي د بندګانو خپلو نه او تنګوي هغه لره او هغه چه تاسو خرچ کړئ

مِّنۡ شَیۡءٍ فَهُوَ یُخۡلِفُهٗ ۚ وَهُوَ خَیۡرُ الرّٰزِقِیۡنَ ﴿۳۹﴾

څه څیز. نو هغه یې په ځائې درکوي د هغه او الله تعالیٰ غوره د روزئ ورکوونکو نه دے.

ډیروي یا مالونه خرچ کوي او داسې رنګ که اولاد یې ډیروي یا اولاد ورته دُعاګانې کوي خو د کافرانو د پاره په دے سره قربت او ثواب نه حاصلیږي. بِالَّتِیۡ دا خبر د مَا دے او په دے خبر کښې کلمه بَا د تاکید د پاره داخلیږي زُلۡفٰی مفعول مطلق من غیر لفظه دے لیکن معنیٰ یې نزدیکت دے. اِلَّا مَنۡ اٰمَنَ دا استثناء منقطع ده په معنیٰ د لکن سره او خبر یې فَاُولٰٓئِكَ لَهُمۡ دے یا استثناء متصل ده یعنی مګر مالونه او اولاد د مؤمن هغه له نزدیکت الله تعالیٰ ته ورکوله شي چه مالونه د الله تعالیٰ په لارے کښې خرچ کړي او اولاد یې صالح وي نو دا د هغه د پاره سبب د قربت او ثواب دے. جَزَآءُ الضِّعۡفِ مراد د ضعف نه زیادت دے صرف دوچنده نه دے مراد، ځکه چه د حسنے جزاء د لس چنده نه شورو کیږي. الۡغُرُفٰتِ دا یې جمع ذکر کړه د پاره د دے چه دلالت اوکړي په کثرت باندے.

س۳۸:- دا تخویف دے هغه مالدارو ته چه د مال او اولاد په ذریعه د الله تعالیٰ د دین مقابله کوي. یَسۡعَوۡنَ دا صیغه یې د دے د پاره راوړه چه دلالت اوکړي په نوے نوے طریقو د مقابله کولو باندے. مُعٰجِزِیۡنَ یعنی اراده لري د عاجزکولو د مؤحدینو د اشاعت د توحید نه یا اراده لري د عاجزکولو د الله تعالیٰ په خپل ګمان سره.

س۳۹:- دا دریم جواب دے یعنی مالداري غریبي د الله تعالیٰ د طرف نه په ایمان والوکښې هم شته نو ستاسو د پاره دلیل د فضیلت نشي کیدلے. او دا ایت په باره د مؤمنانو کښې دے په دے وجه چه مِنۡ عِبَادِهٖ یې ذکر کړے او روستو دواړه جملے هم د مؤمنانو سره تعلق لري. (پاتے په بل مخ)

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلٰٓئِكَةِ

او په هغه ورځ چه راجمع به کړی ټول بیا به اووائی ملائکو ته

أَهٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا سُبْحٰنَكَ

آیا دا هغه کسان دی چه تاسو له ئې عبادت کوو . دوی به اووائی پاکی ده تالره

أَنْتَ وَلِيُّنَا مِنْ دُونِهِمْ ۚ بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ

ته زمونږ واکدار ئې دا خلق نه دی بلکه دوی بندګی کوله

الْجِنَّ ۚ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾ فَالْيَوْمَ

دَ پیریانو ډیرو دَ دوی په هغوی باندے یقین لرلو نو نن ورځ

فَهُوَ يُخْلِفُهُ یعنی مؤمن چه خرچ کوی نو الله تعالیٰ هغه لره عوض ورکوی په دنیا او اخرت کښ لکه چه حدیث دَ صحیح مسلم کښ راغلے دی . اللهما عط منفقا خلفًا . وَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ هر کله چه انسانانو کښ دا صفت هم استعمالیږی چه پلار اولاد له رزق ورکوی بادشاه لښکر له رزق ورکوی نو دَ دے وجے نه رازقین ئې جمع صیغه راوړه . او خَيْرُ دَ دے وجے نه دے چه دَ الله تعالیٰ رزق ورکول همیشه دی او هغه پیدا کوونکے دَ اسبابو دَ رزق دے او هغه پرے عوض نه غواړی .
سلا :- دا تخویف اخروی دے رد دے په مشرکین بالملائکه باندے .
أَهٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا يَعْبُدُونَ دا تپوس دَ پاره دَ توبیخ او ملامته کولو دَ مشرکانو دے لکه تپوس کول دَ عیسیٰ علیه السّلام نه په سورة مائده سلا کښ . یعنی مشرکانو دعویٰ کوله چه مونږ ته دے ملائکو ویلی وو چه زمونږ عبادت کوئے نو دا په هغوی باندے رد دے .
سلا :- دا جواب دے دَ طرف دَ ملائکو نه په ترقیٔ سره چه مونږ اے الله بغیر ستا نه بل متصرف حق دار دَ بندګیٔ نه ګڼړو نو څنګه دوی ته دعوت دَ شرک ورکړو؟ .
مِنْ دُونِهِمْ په دے کښ اشاره ده قطع دَ تعلق دَ دوی ته دَ مشرکانو نه .
بَلْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْجِنَّ یعنی پیریانو به دوی ته شکلونه جوړ کړه او ورته به ئې ویل چه مونږ ملائک یو او ستاسو مدد کوو . بَلْ أَكْثَرُهُمْ بِهِمْ مُؤْمِنُونَ یعنی دوی دوه قسمه دی اول هغه قسم چه دَ پیریانو عبادت کوی په دے عقیده باندے چه دا ملائک دی او دا قسم لږ خلق دی . او دویم قسم هغه دی چه په پیریانو باندے عقیده لري چه دوی متصرف دی او غیب دان دی او دَ هغوی عبادت کوی او دا قسم ډیر دی .

لَا يَمْلِكُ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ نَّفْعًا وَّلَا ضَرًّا ط

اختيار نه لري بعضي ستاسو د بعضو دپاره د نفع او نقصان

وَنَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ذُوْقُوْا عَذَابَ النَّارِ

او ويه وايو موږ هغه كسانو ته چه شرك ئي كړے دے اوڅكئ عذاب د اور

الَّتِيْ كُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَاِذَا تُتْلٰى

هغه چه وئ تاسو د هغې انكار هم كوئ . او كوم وخت چه اولوستلے شي

عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ قَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّا

په دوي باندے ايا تونه زموږ ښكاره دوي وائي نه دے دا مگر

رَجُلٌ يُّرِيْدُ اَنْ يَّصُدَّكُمْ عَمَّا كَانَ يَعْبُدُ

يو سړے دے غواړي چه واړوي تاسو لره د بندگئ د هغه چا نه چه بندگي كوله

اٰبَآؤُكُمْ ج وَقَالُوْا مَا هٰذَآ اِلَّآ اِفْكٌ مُّفْتَرًى ط

مشرانو ستاسو او دوي وائي نه دي دا مگر دروغ جوړ كړے شوي ،

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ

او وائي هغه كسان چه كفر ئي كړے دے په باره د حق كښ چه دوي ته راغے

۴۲:- دا نتيجه د ماقبل ده يَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ شامل دے ملائكو او پيريانو ته۔ نَفْعًا شفاعت او نجات۔ وَلَا ضَرًّا عذاب او هلاكت ضرر رسول يا ضرر دفع كول دواړه مراد كيدے شي۔

فائده :- سورة سجده ۲۰ كښ (الذي كنتم به تكذبون) ذكر كړيدے او دلته بها تكذبون دے د دے وجه داده چه هلته ضمير راجع دے عذاب ته او هغه مذكر دے او دلته ضمير راجع دے نار ته او هغه مونث دے او بيا وجه د فرق داده چه سورة سجده كښ ذكر د داسے وخت دے چه دوي اور ته داخل شوے دي نو عذاب ئي اوليدلو نو د هغې انكار ختم شو او دلته د حشر حالت دے اور ته نه دي داخل شوي نو اول په دوي اور اويني ځكه چه هغه محسوس دے ښكاريږي نو انكار د اور نه به ختم شي۔

إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٤٣﴾ وَمَآ ءَاتَيْنَٰهُم

نه دے دا مګر جادو ښکاره دے . او نه دي ورکړي مونږ دوی ته

مِّن كُتُبٍ يَدْرُسُونَهَا ۖ وَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ

کتابونه چه دوی یې لولی (دپاره د اثبات د شرک) او نه لیږلے دے مونږ دوی ته

قَبْلَكَ مِن نَّذِيرٍ ﴿٤٤﴾ وَكَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن

ستا نه مخکښ هیڅ ویره ورکوونکے . او تکذیب کړے وو هغه کسانو چه د

قَبْلِهِمْ وَمَا بَلَغُوا۟ مِعْشَارَ مَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ

دوی نه مخکښ وو او نه دی رسیدلی (دا موجوده خلق) لسمے حصے د هغه مالونو ته چه مونږ هغوی ته ورکړي وو

فَكَذَّبُوا۟ رُسُلِى ۖ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٥﴾ ع ۵ / ۱۱

نو تکذیب اوکړو هغوی د رسولانو زما نو څه رنګ شو عذاب زما .

ف۴۳:- دا زجر دے په انکار د قرآن او د رسول صلّی الله علیه وسلّم په ذکر کولو د درے اعتراضونو سره اول دا چه مونږ د مشرانو د لارے نه اړوی یعنی دوی د قرآن په مقابله کښ تقلید د ابائو پیش کوی. دویم دا چه اِفْكٌ دے یعنی هغه دروغ چه حقیقت پکښ بالکل بدل شوید ے . مُّفْتَرًى یعنی الله تعالیٰ ته یې په دروغه سره نسبت کوی .
فائده :- اول او دویم انکار د توحید او د قرآن دے نو هغه د شرک او د جهل کار دے او دریم انکار د رسول دے دا د کفر او د عناد د وجے نه و په دے وجه یې د آخری اعتراض سره وقال الذین کفروا اویل .
ف۴۴:- دا رد دے د دوی په ما قبل اقوالو باندے یعنی د دوی سره هیڅ منزّل دلیل نیشته د دوی په شرک باندے او نه ورسره د مخکښنیو رسول قول په دلیل کښ شته . په دے کښ اشاره ده چه دلیل شرعی د الله کتاب وی یا د رسول سنّت وی .
ف۴۵:- په دے کښ تخویف دنیوی دے په ذکر د عذاب سره په تیر شوو قومونو باندے مِعْشَارَ معشار عشر د عشیر ته وائی او عشیر عشر د عشر ته او عشر لسمے حصے ته وائی نو مراد ترینه زرمه حصّه شوه نو دا ډیره مبالغه شوه . یعنی د دے موجوده کافرانو سره د مخکښنو په نسبت (د پاتے په بل مخ)

قُلْ اِنَّمَآ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍ ۚ اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ

ته اُوایه یقیناً زه یځ کووم تاسو ذ عذاب نه په یو کلمه سره (چه تو دا ده) او دریږئ د الله تعالیٰ دپاره

مَثْنٰى وَفُرَادٰى ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا ۚ مَا بِصَاحِبِكُمْ

دوه دوه او یو یو بیا سوچ اوکړئ (په دے کلمه کښ) نیشته ستاسو په خیرخواه باندے

مِّنْ جِنَّةٍ ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ

هیڅ لیونتوب نه دے دے مګر ویره درکوونکے دے تاسو لره مخکښ

عَذَابٍ شَدِيْدٍ ﴿۴۶﴾ قُلْ مَا سَاَلْتُكُمْ مِّنْ اَجْرٍ

د عذاب سخت نه - ته اُوایه هغه چه غوښتلے وی ما ستاسو نه څه مزدوری

زرمه حصه دَ قوت دَ بدن او مال او هنر او اوګدوالے دَ عمر نیشته - په دے ایت کښ یئے تکذیب دوه کرته ذکر کړے دے اول تکذیب دَ توحید او دَ ایا نو دے او دویم دَ رسولانو دے - نَکِیْرِ مراد دَ دے نه انکار کول دَ چا دَ بد عمل دے په طریقه دَ عذاب ورکولو سره -

سلا :- دا طریقه دَ دعوت او دَ تعلیم ده یعنی متکرین وائی چه ته مونږ په ډیرو خبرو سره تنګوے نو ته مجنون یئے حاصل دَ جواب دا دے چه زه وعظ کوم او تاسو دَ عذاب نه یځ کووم صرف دَ یوے کلمے په بیان سره چه هغه کلمه دَ توحید ده خو جامع ده ټولو ایمانیاتو لره -

اَنْ تَقُوْمُوْا لام پکښ مقدار دے او مراد دَ قیام نه توجه کول دی حق ته - لِلّٰهِ مراد دَ دے نه اخلاص کول دی - مَثْنٰى وَفُرَادٰى یعنی چا چه په ځان اعتماد اوکړو چه زما عقل او رائے پوره ده نو هغه دِ یواځے توجه اوکړی او څوک چه په ځان پوره اعتماد دَ یو هغه لری نو دَ بل ملګری سره دِ شی -

او هر کله چه دَ اکثرو انسانانو یواځے رائے او عقل کښ نقصان دے نو دَ دے وجے نه مُثْنٰى یئے مخکښ ذکر کړو - ثُمَّ تَتَفَكَّرُوْا یعنی دَ اخلاص نه روستو فکر اوکړئ په هغه توحید کښ چه دے رسول صلی الله علیه وسلم په هغې باندے راتلل کړے دی نو تاسو ته به ښکاره شی چه مَا بِصَاحِبِكُمْ مِّنْ جِنَّةٍ -

فَهُوَ لَكُمْ ۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ ۖ وَهُوَ
نو هغه د ستاسو شي ته دے زما اجر (مزدوري) مګر په الله تعالیٰ باندې دے او الله تعالیٰ

عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿٤٧﴾ قُلْ إِنَّ رَبِّي يَقْذِفُ
په هر څيز باندے حاضر او ناظر دے۔ ته اُوايه يقيناً رب زما وړګذاري

بِالْحَقِّ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿٤٨﴾ قُلْ جَاءَ الْحَقُّ
حق لره (په باطل باندے) عالم دے په ټولو غيبو باندے۔ ته اُوايه حق راغے

وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ ﴿٤٩﴾ قُلْ
او نه شي پيدا کولے باطل (د حق په مقابله کښې) اول پيدائش او نه دوباره پيدائش کولے شي۔ ته اُوايه

سـ٤٧: دا بله طريقه دَ دعوت ده يعني منکرين که دا خيال اوکړي چه دَ ليونے نه دے ليکن دَ دُنيا دَ مال غرض دے نو جواب ئے ورکړو۔ مَاسَاَلْتُكُمْ الخ دا ئے په جمله شرطيه سره ذکر کړو دَ تاکيد دَ پاره يعني که ما چرے ستاسو نه عوض غوښتلے وي نو په ما باندے دَ هغے اثبات اوکړئے نو زما عادت تاسو ته معلوم دے چه څه په دين باندے ستاسو نه هيڅ عوض نه غواړم۔

سـ٤٨: دا بله طريقه دَ دعوت او دَ تعليم ده يعني منکرين وائي چه هر کله ستا دنيوي غرض نيشته نو بيا دَ څه وجے نه زمونږ دَ مشرانو دَ دين خلاف کوے حاصل جواب دا دے چه دا دَ الله تعالیٰ کار دے چه په حق سره باطل باندے ګذار ورته کوي دَ باطل دَ ختمولو دَ پاره لکه سورة انبياء سـ١٨ کښې تير شوے دي۔ او الله تعالیٰ حق او باطل باندے عالم دے ځکه چه علام الغيوب دے۔

سـ٤٩: دا بله طريقه دَ دعوت ده يعني منکرين وائي چه ته رد کوے زمونږ په طريقه او دين باندے چه زمونږ دين باطل او خپل حق ګڼړے نو دَ دے رد کولو څه فائده اوشوه؟ جواب اوشو چه په دے سره حق ښکاره شو او باطل ختم شو (يعني تر دے ده چه دين توحيد به په شرک باندے غالب شي) لکه چه روايت دَ ابن مسعود رضي الله عنه (چه خطيب شربيني ذکر کړے دے) کښې راغلے دي چه نبي صلى الله عليه وسلم دَ فتح مکے په وخت چه راغے او دَ کعبے نه چاپيره دَرې سوه شپيته بتان وو نو هر يو به ئے په څوکه باندے نيغ وهلو او ويل به ئے "جاء الحق وزهق الباطل وجاء الحق ومايبدئ الباطل ومايعيد"

مَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ، دا کنايه ده دَ هلاکت نه يعني (دپاتے په بل مخ)

إِنْ ضَلَلْتُ فَإِنَّمَا أَضِلُّ عَلَىٰ نَفْسِي ۖ
که چرے زۂ بے لارے یم نو یقینًا بے لارے کیږم وبال به زما په ځان باندے وی
وَإِنِ اهْتَدَيْتُ فَبِمَا يُوحِي إِلَيَّ رَبِّي ۚ إِنَّهُ
او که چرے زۂ هدایت والا یم نو په دے سره چه وحی کرے شی ماته رب زما یقینًا هغه هر څه
سَمِيعٌ قَرِيبٌ ۝٥٠ وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ فَزِعُوا
اوری نزدے دے او که چرے اوینے ته هغه وخت چه دوی په ګیراؤ شی
فَلَا فَوْتَ وَأُخِذُوا مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ ۝٥١
نو نه به وی بچ کیدل او اوبه نیولے شی دوی د مکان (ځائے) نزدے نه

باطل دَحق په مقابله کښې دا سے هلاک شوچه نه اوس سر ښکاره کولے شی او نه په بیا سر ښکاره کړی تفسیر سراج المنیر دَدے په تائید کښې قول دَ عبید ذکر کړے دے۔
دویمه توجیه دَحسن بصری نه نقل ده چه باطل معبود خپل عابدانو ته نه په اول (دنیا) کښې نفع ورکولے شی او نه په آخرت کښې۔
دریمه توجیه دا ده چه باطل معبود نه اول پیدائښت کولے شی او نه دوباره پیدا کول، نو دَ هغوی عبادت دَ توحید په مقابله کښې نشی ښکاره کیدلے۔
نه: دا بله طریقه دَ دعوت او دَ تعلیم ده یعنی منکرین وائی چه تا دین دَ مشرانو ته باطل اوئیل نو معلومه شوه چه ته ګمراه یئے؟
حاصل دَ جواب دا دے چه بالفرض که څه ګمراه یم نو په تاسو باندے دَ هغے څه وبال نیشته لیکن یل طرف ته هم غور او کړئے که څه په هدایت باندے یم نو ما سره حجت شته او تاسو منکر یئے نو بیا خو به په تاسو باندے وبال او عذاب راځی۔
سله: دا تخویف دے یعنی چه عذاب په تاسو باندے راشی ځکه چه تاسو دَ هدایت نه انکار کوئے نو بیا بچ کیدل نیشته۔ فَزِعُوْا دا عام دے دَ دنیا عذاب او دَ قبر او دَ حشر عذاب ټولو ته شامل دے۔ مَكَانٍ قَرِيبٍ یعنی هر ځائے الله تعالیٰ ته نزدے دے۔

وَقَالُوٓا اٰمَنَّا بِهٖ ۚ وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ

او دوی به اُوائی ایمان راوړے دے مونږ په دے باندے او کله یه وی دوی لره رانیول دَ ایمان

مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ۚۖ ﴿۵۲﴾ وَّقَدْ كَفَرُوْا بِهٖ

دَ ځائے لرے نه - او حال دا چه دوی کفر کړے دے په دے باندے

مِنْ قَبْلُ ۚ وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ مِنْ

د مخکښ نه او ویشتلے دوی دَ توک خبرے دَ

مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۵۳﴾ وَحِيْلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ

ځائے لرے نه - او پرده به راشی په مینځ دَ دوی او دَ هغه

ف۵۲ :- دا دفع دَ وهم ده یعنی دوی به وائی چه مونږ به په هغه وخت کښ ایمان راوړو نو ځ به شو دَ عذاب نه جواب اوشو په دے قول سره -
وَاَنّٰى لَهُمُ التَّنَاوُشُ مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ یعنی دنیا دَ آخرت نه لرے پاتے شوے ده چه دَ هغه لرے ځائے نه به څرنګه ایمان حاصل کړی یعنی دَ ایمان دَ حاصلولو ځائے دنیا وه او هغه دَ دوی نه لرے پاتے شوه -

فائده :- هرکله چه قیامت راتلونکے څیز قریب وی نو دَ دے وجے نه یئے په ډیرو آیاتو کښ قیامت ته قریب ویلے دے لکه لعلّ الساعة تکون قریبا. اقتربت الساعة - او کوم څیز چه تیر شی نو هغه لرے شی دَ دے وجے نه په دے آیت کښ دنیا ته بعید اویلے شو نو معلومه شوه چه دَ دے آیاتو په مینځ کښ هیڅ اختلاف نیشته -

ف۵۳ :- دا دَ مخکښ آیت دَ پاره وجه ذکر کوی یعنی دَ دوی ایمان اوس نه قبلیږی چه دوی مخکښ کفر کوو او هیڅ دلیل ورسره نه وو - وَيَقْذِفُوْنَ بِالْغَيْبِ دا کنایه ده دَ توک او اټکل (بے دلیله) فتوو او حکمونو نه په باره دَ قرآن او رسول او قیامت کښ - مِنْ مَّكَانٍۭ بَعِيْدٍ دا هم کنایه ده چه دَ بے دلیله حکمونو مثال داسے دے لکه چه دَ لرے ځائے نه په یو څیز باندے دَ غشو یا ګولو ګذارونه کوی او ورته نه ښکاریږی - نو بعید کنایه ده دَ غائب نه -

مَا يَشْتَهُوْنَ كَمَا فُعِلَ بِاَشْيَاعِهِمْ مِّنْ

خيز كبن چه دوى غوښتلو لكه چه كار اوكړے شو دَدوى دَ ملګرو سره دَ

قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا فِىْ شَكٍّ مُّرِيْبٍ ﴿٥٤﴾

مخكښ نه يقينًا دوى وو په شك كښ چه پوخ شك دے.

٥٤:۔ داهم تخويف كښ داخل دے يعنى په وخت دَ عذاب دَ دنيا اواخرت كښ دَدوى تمنا كانے به بے فائدے شى يو تمنا دا چه په وخت دَ عذاب كښ په ايمان اوايو تو نجات به حاصل شى يله دا چه جنت به حاصل كړو يادا چه دنيا ته به واپس اوګرځولے شو ۔خيل او فعل هغه فعلونه چه فاعل ئے ماده دَفعل وى يعنى وقعت الحيلولة وفعل الفعل ۔
مُرِيْبٍ دَپاره دَتاكيد دَشك دے يعنى هغه شګ چه انسان لره انكار ته اورسوى ۔

ختم شو تفسير دَ سورة سبا په فضل وكرم دَمولا ۔

سُوْرَةُ فَاطِر مَكِّيَّةٌ ۳۵ ۴۳ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۴۵ رُكُوْعَاتُهَا ۵

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ جَاعِلِ

ټول صفتونه دَ خدائے خاص الله تعالیٰ لره دی چه دَ اول نه پیدا کوونکے دَ اسمانونو او دَ زمکے دے مقرر کوونکے

الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِيْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰى وَ

دَ ملائکو دے رسولان وزرو والا دی دوه دوه او

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة فاطر۔ او دَ دے بل نوم سورة الملائکه دے

ربط دَ دے سورت دَ سورة سبا سره په څو طریقو دے اوله طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ نقلی دلیلونه په اثبات دَ توحید بیان دے وونو په دے سورت کښ دیارلس عقلی دلیلونه ذکر کوی۔ دویمه طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ رد ووُ دَ شبهاتو نو په دے سورت کښ تفریع ده په هغے بیان دے په رد دَ شرک فی التصرف والدعاء سره۔ دریمه طریقه دا ده چه دَ هغه سورت اختتام ووُ په انهم لفی شك مریب سره او شک دا دے چه حق باطل کښ فرق نه کنړی نو په دے سورت کښ دا سے دلیلونه او مثالونه ذکر کوی چه دلالت کوی په عدم مساوات او په اختلاف دَ حق او باطل بیان دے۔

دعویٰ دَ دے سورت۔ رد دَ شرک فی الدعاء دے په عقلی دلیلونو او مثالونو سره۔

خلاصه دَ سورت۔ په دے سورت کښ درے بابونه دی۔ اول باب ترے پورے دے په دے کښ دعویٰ دَ توحید په دوه تعبیرونو سره ده۔ الحمد لله۔ لا اله الا هو۔ او اته عقلی دلیلونه دی په خائسته ترتیب سره او په مینځ دَ دلیلونو کښ تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او تحذیر دَ دوه دهوکو ورکوونکو او تخویف او بشارت دے او اخر کښ تفریع ده په رد دَ شرک فی الدعاء سره۔

وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۭ يَزِيْدُ فِى الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ ۭ

دری دری او څلور څلور زیاتول کوی په پیدائش کښی څومره چه اوغواړی

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ①

یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت والا دے۔

مَا يَفْتَحِ اللّٰهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَّحْمَةٍ فَلَا

هغه چه پرانزی الله تعالیٰ خلقو لره څه رحمت نو نیشته

په دے ایت (رسـ) کښی دعویٰ دَ توحید ده په الحمد لله سره او دا پنځم سورت دے په قرآن کریم کښی چه په اول کښی ئے حمد ذکر دے۔ فاطر السمٰوٰت والارض۔ فطر په اصل کښی دا دے چه یو څیز اوچوی او بل څیز ترینه ښکاره شی لکه چه جامه اوچوی او غابن ترینه راوځی یا زمکه اوچوی او اوبه ترینه راوځی نو دلته دوه توجیه دی اول دا چه دَ عدم (نیشت والی) نه ئے وجود ته راښکاره کړل او دا معنیٰ مشهوره ده او دویمه توجیه دا ده چه اسمان ئے اوچوولو (دروازے په کښی جوړ کړے دی) نو ملائک ترینه راکوزیګی او وحی نازلیګی او دَ بره طرف نه بارانونه نازلیګی او زمکه ئے اوچوله نو چینے دَ اوبو، خزانے دَ سرو او سپینو او تیلو او بوټی او نے ترینه راوباسی۔ او روستو جمله هم دَ دے معنے سره مناسبت لری۔ جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا دا ذکر دَ هغه مخلوق دے چه په هغوی سره ربط دے په مینځ دَ اسمان او زمکه کښی۔ رُسُلًا یعنی دَ ملائکو په ذریعه وحی رالیګی انبیاء علیهم السّلام ته او الهام او رښتنی او صالح خوبونه راځی اولیاؤ ته او دَ ملائکو په واسطه دَ ټولو بندګانو عملونه لیکی او دَ دے ملائکو په واسطه دَ بعض بندګانو حفاظت کوی۔ دا ټول په دے ایت کښی داخل دی۔ مَّثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ دَ وزرو په لحاظ سره په ملائکو کښی تفاوت دے يَزِيْدُ فِى الْخَلْقِ مَا يَشَآءُ اشاره ده چه دَ بعض ملائکو وزرے زیاتے دی لکه چه حدیث دَ مسلم کښی وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلّم جبرائیل علیه السّلام لره په اصلی شکل کښی اولیدلو چه دَ اسمان غاړے ئے پټے کړے وے او دَ هغه شپږ سوه وزرے وے۔ او دَ دے وزرو په تفصیلی کیفیت باندے الله تعالیٰ عالم دے او دا رنګ مفسرینو په دے کښی داخل کړے دی دَ ملائکو او دَ انسانانو په قد و قامت کښی تفاوت او په ښوره والی دَ اعضاؤ او په خائست کښی او فصاحت او بلاغت دَ خبرو کښی او نورو اوصافو کښی۔

مُمْسِكَ لَهَا ۚ وَمَا يُمْسِكْ ۙ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ

پیداوونکے | دَ هغې | او هغه چه بند کړی | نو نیشته | آزادونکے | دَ هغې

مِنْ بَعْدِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢﴾

روستو دَ بندولو دَ هغه نه | او | الله تعالیٰ | زور اور | او | حکمت والا دے.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ اذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ ۚ

اے | خلقو | یاد کړئ | احسان | دَ الله تعالیٰ په تاسو باندے

هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللَّهِ يَرْزُقُكُمْ

آیا | شته | دے | پیداکوونکے | سوا دَ الله تعالیٰ نه چه روزی درکړی تاسو لره

مِنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ

دَ | آسمان | او | زمکے | نه | نیشته حق دار دَ بندگۍ سوا دَ هغه نه

فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٣﴾ وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ

نو څه رنگے اړولے کیدیشئ تاسو دَ توحید نه. | او که چرے دوی تاته | دروغژن | وائی

۲: دا دویم دلیل عقلی دے. روستو دَ خلق دَ اعیانو نه ذکر دَ حالاتو دَ وسعت او دَ تکلیف دے. رَحْمَةٍ دا لفظ وسعت دَ رزق او صحت دَ عافیت او خوشحالئ او بارانونه او هر قسم نعمت دنیویه او نعمتِ دینیه ته شامل دے. او په دے آیت کښ رد دے په شرک فی التصرف باندے او فَلَا مُمْسِكَ او لَا مُرْسِلَ عام دے یعنی هیڅوک نبی او ولی او ملک او جن او بتان او ټول معبودان من دون الله دَ هیڅ دَ نفع او ضرر او فائدے ورکولو او دَ نقصان دفع کولو قدرت او اختیار نه لری.

۳: دا دریم دلیل عقلی دے او په دے کښ خطاب عام دے یعنی نور نعمتونه دَ الله تعالیٰ بے شماره دی په زړه او په ژبے سره ئې یاد کړئ یعنی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ئې او ګڼړے او هغه ته ئې نسبت کوئ. هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللَّهِ دا په مینځ کښ جواب دَ سوال دے یعنی که څوک وهم او کړی چه نعمتونه مور او پلار او نور سخیان خلق هم ورکوی؟ نو حاصل دَ جواب دا دے چه هغوی دَ دے نعمتو نو پیداکوونکی نه دی نو نعمت دَ هغوی دَ طرف نه نه دے. او لوئے نعمت رزق پیدا کول دی نو هغه ئې په تخصیص سره ذکر کړو. لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ دا نتیجه دَ تیرشوی دلیلونو ده فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ دا زورنه ده او طلب دَ دلیل دے دَ مشرکانو نه چه په کوم دلیل دَ توحید نه شرک ته اړولے شوی یئ.

فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ ۖ وَ

او یقینًا دروغژن ویلے شوے دی ډیر رسولان نو ته ستا نه مخکښ

إِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤﴾ يَا أَيُّهَا النَّاسُ

خاص الله تعالیٰ ته گرځولے کیدے شی ټول کارونه ۔ اے خلقو

إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ الْحَيَاةُ

یقینًا وعده دَ الله تعالیٰ حقه ده نو نه دِ دهوکه کوی تاسو لره ژوند

الدُّنْيَا ۖ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴿٥﴾

دنیوی او نه دِ دهوکه کوی تاسو په الله تعالیٰ بانڊے دهوکه دَرکوونکے ۔

إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ۚ

یقینًا شیطان تاسو لره دُشمن دے نو او نیسئ هغه لره په دُشمنئ سره

سك :۔ په دے ایت کښ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلّم ذکرکوی روستو دَ بیان دَ توحید نه او تسلّی هم ده هغهٔ ته۔ فَقَدْ كُذِّبَتْ جزاء دَ شرط په اصل کښ محذوف ده یعنی فاصبر (صبرکوه) او دَ رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِكَ نه روستو هم صبروا حذف دے یعنی هغوی هم صبر کړے وو۔

فائده :۔ رُسُلٌ ئے نکره ذکرکړو یعنی ډیر رسولان وو او ډیرے معجزے او ایات ورسره وو او ډیرو عمرونو والا وو او ډیر مصیبتونه پرے راغلی وو۔ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ یعنی عذاب به ورکوی مکذبینو ته او ثواب به ورکوی صبرکوونکو ته۔

سه :۔ په دے کښ ذکر دَ اثبات دَ قیامت دے سرهٔ دَ تحدید دَ اسبابو دَ انکار دَ هغے نه۔ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ په دے کښ مراد هغه رجوع الی الله ده چه مخکښ ایت کښ ذکر کړے شوه۔ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا مراد دَ دے نه مشغولیدل دی په مال دَ دنیا او په مزو دَ هغے او شهواتو دَ هغے بانڊے تر دے پورے چه انسان غافل شی دَ اخرت او دَ مرګ نه یا منکر شی دَ اخرت نه۔ بِاللَّهِ الْغَرُورُ دا سے سورۃ لقمان ۳۳ کښ هم تیر شوے دی۔ الْغَرُورُ شیطان انسی او جنّی دواړوته شامل دے۔

إِنَّمَا يَدْعُوا حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحٰبِ

یقیناً نا بلی هغه خپله ډله د دے د پاره چه او گرځی د اور

السَّعِيرِ ﴿٦﴾ الَّذِينَ كَفَرُوا لَهُمْ عَذَابٌ

والو. ته هغه کسان چه کفر ئے کړے وی دوی لره عذاب

شَدِيدٌ ۖ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

سخت دے او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے د سنت موافق

لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾ أَفَمَنْ

دوی لره بخښش دے او ثواب لوے دے. آیا هغه څوک چه

زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَنًا ۖ فَإِنَّ اللّٰهَ

ښائسته کړے شوے دی هغه لره بد عمل د هغه نو وینی ئے لره ښائسته نو یقیناً الله تعالیٰ

يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي مَنْ يَشَاءُ ۖ

گمراه کوی چا لره چه اوغواړی او هدایت ورکوی چا ته چه اوغواړی

فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرٰتٍ ۚ

نو لاړه نشی ساه ستا په دوی پسے د دیر د افسوسونو ته.

سلا :- دا علت دے د ماقبل د پاره. فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا یعنی په عقائدو او اعمالو کښ د هغه دا سے مخالفت کوئے لکه چه د دشمن مخالفت کیدے شی. او قشیری نه نقل دی چه د دغه دشمن نه په مدد د الله تعالیٰ سره ځان بچ کوئے لکه چه هغه ستاسو د دشمنئ نه غفلت نه کوی نو تاسو هم د الله تعالیٰ نه په مدد غوختلو کښ هیڅ وخت غفلت مه کوئے. او قرطبی د ابن سماک نه نقل کړے دی "هائے تعجب دے د هغه چا نه چه نا فرمانی کوی د خپل محسن پس د پیژندلو د احسان د هغه نه او طاعت کوی د لعین پس د پیژندلو د دشمنئ د هغه نه". لِيَكُونُوا د دے نه مخکښ دا لفظ پټ دے (ای الضلال والکفر والشرك) .

سک :- په دے آیت کښ بیان د عاقبت د حزب الشیطان او د حزب الرحمان دے اوّل ته تخویف او دویم ته بشارت دے. او مغفرت په عوض د ایمان کښ دے او اجر کبیر په بدل د عمل صالح کښ دے.

إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ⑧ وَاللَّهُ الَّذِيٓ
يقيناً الله تعالى پوهه دے په هغه كارونو چه دوى كوى. او الله تعالى هغه ذات دے
أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَٰهُ إِلَىٰ
چه رالیږی هواګانے نو پورته کوی وریځے نو او چلوو مونږ هغه
بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا
زمکے اوچے ته نو تازه کړو په هغے سره زمکه روستو د اوچ والی د هغے نه
كَذَٰلِكَ ٱلنُّشُورُ ⑨ مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلْعِزَّةَ
دغسے دوباره پیدائیش ستاسو دے. هغه څوک چه غواړی عزت

ف ۸:۔ په دے ایت کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته او بیان د حال د فریقینو دے. أَفَمَن زُيِّنَ لَهُ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ داعام دے نو لوکفارو او مشرکینو او مبتدعینو ته. بد عملونه د دوی عناد کول دی د نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه د تابعدارو سره او شرک کول د دوی او مخالفت کول د سنت د نبی صلی الله علیه وسلم نه. دا کارونه دوی ته خائسته ښکاری چه دا سبب د ثواب او د قربت الهیه دے یا دا کارونه سبب د فخر او د لوئی او د غیرت دی د دے وجے نه همیشه ئے کوی او توبه تر یته نه اوباسی. او سعید بن جبیر نه خطیب شربینی نقل راوړے دے چه دا ایت په باره د اصحاب هوی او بدعتیانو کښ دے.

فائده :۔ د دے شرط جزاء محذوف ده کسائی وئیلے وی (تذهب نفسک علیهم) په قرینه د ما بعد سره او زجاج وئیلے دی (کمن هداه الله) یا (کمن هو لیس کذلک). فَإِنَّ ٱللَّهَ يُضِلُّ دا علت دے د پاره د عدم مساوات د دوی فَلَا تَذْهَبْ الخ دا تفریع ده په عدم مساوات او په یضل من یشاء باندے یعنی هرکله چه د دوی هدایت او ضلال په اختیار د الله تعالی کښ دے نو ته دومره غمژن کیږه مه چه د غم د وجے نه مړشے ځکه ستا دا غم او مرګ هیڅ فائده نه کوی. حَسَرَٰتٍ مفعول له دے یعنی د وجے د ډیرو افسوسونو او خفګانونو نه. "حَسْرَة" وئیلے کیږی سخت خفګان کولو ته په فوت شوے څیز باندے. يَصْنَعُونَ صناعت هغه عمل ته وئیلے کیږی چه همیشه ئے کوی د دے وجے چه هغوئے جوړ کړے وی یا دین ئے ګڼړلے وی نو دا د راٰه حسنا سره مناسب دے.

ف ۹:۔ دا څلورم عقلی دلیل دے د پاره د پوهه کولو (رپانړے په یل مخ)

فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ۭ اِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ

پس عزت ټول دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دے (ردٌ الله تعالیٰ ته ئې غواړے) خاص هغه ته ورختلې کلمے

الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهٗ ۭ وَالَّذِيْنَ

پاکے (رد اخلاص) او عمل دَ سنّت موافق پورته کوی الله تعالیٰ هغه لره او هغه کسان

يَمْكُرُوْنَ السَّيِّاٰتِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۭ

چه چلونه جوړوی دَ بداد کارونو هغوی لره عذاب سخت دے،

وَمَكْرُ اُولٰۗىِٕكَ هُوَ يَبُوْرُ ۝۱۰ وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ

او هر چل دَ دے کسانو به بے کاره کړے شی - او الله تعالیٰ ستاسو پیدا ایښ شورو کړے دے

دَ هغه کسانو چه زُيِّنَ لَهٗ سُوْۗءُ عَمَلِهٖ کښ مراد وو او په دے کښ ئې درے تصرفات اِلٰهِيه ذکر کړے دی ۱ هواګانے رالیږل او په هغے سره وریځے پورته کول ۲ شاړے زمکے ته چلول ۳ باران کول او بوټی پیدا کول - آرْسَلَ نه مراد دَ عدم نه وجود ته راوستل دی. هر کله چه هواګانے رالېږل یو عادتی کار دے او په هغے سره وریځے پیدا کول کله کله وی نو آرْسَلَ ئې فعل ماضی ذکر کړه او فَتُثِيْرُ فعل مضارع ذکر کړے ده. او هر کله چه دَ وریځو نقل کول او باران کول بوټی راویستل پوره دلالت کوی په اختصاص باندے دَ دے وجے دَ غائب نه ئې انتقال او کړو متکلم ته. او هر کله چه تیر شوے ایاتو کښ آفاقی علوی او انفسی دلیلونه ذکر وو نو په دے ایت کښ ئې وسطی تصرفات ذکر کړے دی- كَذٰلِكَ النُّشُوْرُ په دے جمله کښ اثبات دَ قیامت دے په طریقه دَ قیاس سره په بوټو راویستلو سره دَ وچے زمکے نه او دا رنګ تذکیر دَ قیامت دے په وخت دَ لیدلو دَ فصلونو او باغونو کښ- او دا تشبیه په دوه طریقو سره ده اوّل لکه چه اوچه زمکے تازګی قبول کړه دا سے بدن دَ انسان به ژوند قبول کړی دویم لکه چه هواګانے وریځے متفرقے راجمعه کوی دا رنګ به متفرق اندامونه هم راجمعه کړیشی دریم لکه چه الله تعالیٰ هوا او وریځے او چے زمکے ته رالیږی نو دغسے به ارواحو لره بدنونو ته رالیږی او ژوند به ورله ورکړی-

ف۱:- دا یخم عقلی دلیل دے او دلیل انفسی دے دَ نفسونو دَ حالاتو سره تعلق لری او مخکښ ایت سره ئې مناسبت هم دا دے لکه چه اوچه زمکه کښ الله تعالیٰ ژوند پیدا کوی او دا ترقی ده نو دا رنګ عزت انسانانو ته ورکوی- او په دیکښ مقصد رد دے په مشرکانو باندے چه هغوی عزت راومدد) دَ خپلو اِلٰهو باطلو

مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ جَعَلَكُمْ

دَ	خاورو نه	بیا	دَ	نطفې نه	بیا	جوړ کړی یې	تاسو

دَطرف نه کتری لکه سورة مریم ۸۱ کښ دی. او رد دے په منافقانو باندے چه عزت دَ کافرانو په دوستانو کښ کتری لکه سورة نساء ۱۳۹ کښ ذکر دی نو په اوله جمله کښ رد دے په مشرکانو چه اختیار دَ عزت ورکولو صرف دَ الله تعالیٰ سره دے او دویمه جمله (الیه یصعد الکلم الخ) کښ رد دے په منافقانو باندے چه مسبّب دَ عزت، توحید او عمل صالح دے - مَنْ كَانَ الخ دَ دے جزا حذف ده (فلیطلبها من الله یعنی دَ الله تعالیٰ نه دِ غواړی) إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ - الیه یصعد دلالت کوی چه الله تعالیٰ اوچت او پورته دے او کیفیت دَ هغې دَ متشابهاتو نه دے. الْكَلِمُ الطَّيِّبُ مراد دے نه توحید دے او کلم مفرد دے پشان دَ کلام یا مراد دے نه اقوال طیبه یعنی کلمات دَ توحید او دَ ذکر دَ الله تعالیٰ دی او کلم اسم جنس یا اسم جمع دے. وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ په ضمیر مرفوع دَ دے کښ احتمالات دی اول احتمال دا الله تعالیٰ ته راجع دے او ضمیر مفعول یې عمل صالح ته راجع دے. دویم احتمال کلم طیب ته راجع دے چه هغه په معنیٰ دَ توحید دے یعنی عقیده دَ توحید عمل صالح لره پورته کوی مقام دَ قبولیت ته ځکه چه بناء دَ اعمالو په عقیده باندے ده دریم احتمال ضمیر فاعل راجع دے کلم طیب ته چه هغه په معنیٰ دَ اقوالو طیبه سره دے یعنی دَ عمل صالح په وجه سره اقوال طیبه قبلیږی ځکه چه قول بغیر دَ عمل نه نه قبلیږی او تفسیر قرطبی کښ دَ دے دَ تائید دَپاره یو حدیث غیر مسند ذکر کړے دے "لا یقبل الله قولا الا بعمل (نه قبلوی الله قول لره بغیر دَ عمل نه) ولا یقبل قولًا ولا عملًا الا بنیة (او نه قبلوی الله تعالیٰ قول او عمل لره مګر په نیت سره) ولا یقبل قولًا ولا عملًا ولا نیةً الا باصابة السنة (او نه قبلوی قول او عمل او نیت لره مګر په موافق دَ سنت سره". وَالَّذِينَ يَمْكُرُونَ السَّيِّئَاتِ - یعنی الله تعالیٰ چه مؤحدینو ته عزت ورکړی نو مشرکان او حاسدان دَ هغوی دَ بے عزته کولو کوشش نه کوی نو دا دَ هغوی سزا ذکر کوی. یا دَ سیئات نه مراد شرک او کفر او بد اعمال دی مخالف دَ کلم طیب او عمل صالح نه -

أَزْوَاجًا ۚ وَمَا تَحْمِلُ مِنْ أُنْثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا

جوړه کړي او حمل نه اخلي يو زنانه او نه يې ځوروي مګر

بِعِلْمِهِ ۚ وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُعَمَّرٍ وَلَا يُنْقَصُ

په علم دَ الله تعالى سره او نه عمر وركيږي شي يو عمرودركړې شوي ته او نه كمے دے شي

مِنْ عُمُرِهِ إِلَّا فِي كِتَابٍ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ

دَ عمر دَ هغه نه مګر په كتاب (تقدير) كښ دى يقينًا دا كار په الله تعالى باندې

يَسِيرٌ ⑪ وَمَا يَسْتَوِي الْبَحْرَانِ ۖ هَٰذَا

آسان دے. او نه دى برابر دوه قسمه دريابونه دا يو

سلا:. دا شپږم دليل عقلي انفسي دے نوراحوالِ انسانيه ذكركوي او مناسبت ئې دَ مخكښ سره دادے چه دَ عزت اختيار دَ الله تعالى سره څكه دے چه خالق دَ دے انسان او عالم او تقدير دے او په دے آيت كښ دَ انسان دَ پيدائش ماده بعيده (خاورے) او ماده قريبه (نطفه) ذكر كړه او دَ زياتيدلو دَ انسانانو دَ پاره ئې تزويج ذكر كړو او دَ بيان دَ قدرت سره ئې علم دَ الله تعالى ذكر كړے دے په دے جمله كښ چه وما تحمل من انثىٰ اه - بِعِلْمِهٖ يعنى دَ حمل په مقدار او وخت او نوعه او شكل وصورت او سعادت او شقاوت وغيره حالاتو باندے الله تعالى عالم دے - بيا ذكر دَ تقدير او كمالِ ارادے دَ الله تعالى كوى په دے جمله سره وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ اه مراد په دواړه جملو سره يو سړے دے يعنى دَ يو سړى عمر په تقدير كښ ليكلے شوے دے مثلاً شپيته كلونه بيا يو يو ورځ كميږى نو په يل كتاب كښ هغه نقصان ليكلے كيږى ترا ختتام دَ عُمر پورے - يا مراد دَ دے نه دوه كسان دى يعنى دَ يو كس عمر زيات دے او دَ بل كس عمر كم دے دا دواړه په تقدير كښ ليكلے شوے دى ليكن هركله چه دا زياتے او كمے بندګانو ته په مستقبل كښ معلوميږى نو دَ دے وجے نه صيغه دَ مضارع ذكر كړے شوه - دريم قول دا دے چه مراد دَ زيادت او نقصان نه زياتے كمے په بركت او په بے بركتۍ كښ دے په سبب دَ نيكو عملونو او بدو عملونو سره -

عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهٗ وَهٰذَا مِلْحٌ

خوږ دے تنده ماتوونکے اسان دی څکل د دهٔ او دا بل مالګين دے

اُجَاجٌ ؕ وَمِنْ كُلٍّ تَاْكُلُوْنَ لَحْمًا طَرِيًّا وَّ

موړے بتاوونکے او د هر یو نه خورئ تاسو غوښه تازه او

تَسْتَخْرِجُوْنَ حِلْيَةً تَلْبَسُوْنَهَا ۚ وَتَرَى الْفُلْكَ

او را اوباسئ تاسو کالی چه اغوندے تاسو هغے لره او وینے ته کشتئ

فِيْهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

په هغے کښ شلوونکی د اوبو د پاره د دے چه اولټوئ تاسو فضل د هغه او د پاره د دے

تَشْكُرُوْنَ ⑫ يُوْلِجُ الَّيْلَ فِى النَّهَارِ

چه د هغه شکر اوکړئ. ورننه باسی شپه په ورځ کښ

سـ۱۲ :۔ دا اُوم دلیل عقلی دے او دا د عالمِ سفلی دلیل دے مناسبت ئے هغکښ سره دا دے لکه چه انسانانو کښ د عمر په لحاظ سره مساوات نیشته دا رنګ په اوبو کښ هم مساوات نیشته او په دے کښ لطیفه، اشاره ده فرق ته په مینځ د مؤحد او مشرک کښ۔ البَحْرَانِ یو بحر سمندر دے چه د هغے اوبه مالګینے دی او دا د زمکے اوبه دی دوم د آسمان اوبه دی چه د باران نو په ذریعه زمکے ته راځی او د هغے نه خوړونه سیندونه جوړ شوے دی او بیا سمندر ته اورسیږی لیکن دغه اوبه د سمندر د اوبو سره نه خلط کیږی او دا خوږے اوبه وی نو په دے وصف کښ دوی برابر نه دی۔

وَمِنْ كُلٍّ الخ په دے کښ اشاره ده چه په دے دوه فائدو کښ دوی برابر دی لیکن فائده اصلی چه څکل د اوبو دی په هغے کښ دوی برابر نه دی اشاره ده که مؤحد او مشرک په صفت د شجاعت سخاوت وغیره کښ چرته برابر شی لیکن د دوی په اصل اعتقاد کښ برابری نیشته وَتَسْتَخْرِجُوْنَ الخ دلته د لفظ د مِنْ كُلٍّ نه۔ او په سورة رحمٰن سـ۲۲ کښ د لفظ منها نه معلومیږی چه جواهرات لؤلؤ مرجان وغیره د دواړو د اختلاط نه حاصلیږی د هغے طریقه دا ده چه د سمندر په سطحه باندے صدف کهلاؤ پروت وی نو په هغے کښ د باران څاڅکی راغورزیګی نو صدف بند شی نو څه وخت روستو د هغے نه لؤلؤ مرجان جوړ شی۔ تَلْبَسُوْنَهَا۔ لباس عام دے چه غاړے اولاسونو ته ئے اچوی یا ئے په جامو پورے اولګوی۔ ﴿باقی په بل مخ﴾

وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۙ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ

او ننه باسي ورځ په شپه کښې او په خدمت کښې لګولي دي نمر

وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُسَمًّى ۚ

او سپوږمۍ هر یو روان دے د پاره د نیټې مقررې

ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ۚ وَالَّذِينَ

دغه مقتدر الله تعالیٰ ستاسو رب دے خاص هغه لره بادشاهي ده او هغه کسان

تَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ مَا يَمْلِكُونَ مِنْ قِطْمِيرٍ ۝

چه تاسو یې په څیو دحاجتو کښې بلئ د هغه نه کوز نه اختیار نه لري د یو پوستکي د هډوکي د کجورې۔

یا ئې په بستره کښې اونکوی. وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ دا فیده په سمندر پورے خاص ده دَدے وجه فِيهِ ئې مفرد ذکر کړو او مراد دَ فلک نه عنقا جهازونه دي په قرینه دَ مواخر سره۔ او هرکله چه پورته دواړه فائدے عموخلقوته رسیږي اګرچه دَسمندر نه لرے دي او روستنۍ فائده خاص ده په هغه چا پورے چه سمندر کښې سورلي کوي دَدے وجه ته اول دواړه صیغے ئې جمع ذکر کړے دي او روستنۍ صیغه ئې مفرد ذکر کړیده۔ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ یعنې په فضل دَ الله تعالیٰ او په ټولو سره دَ غرقیدلو نه شکر اوکړئ۔

ت ۱۳ :- دا اتم دلیل عقلي وسطي زماني دے۔ شپه او ورځ اجزاء دَ زمانے کښې او نمر سپوږمۍ دَدے دَ اختلاف سبب دے دَدے وجه نه ئې یو ځائے ذکر کړل۔ لِأَجَلٍ مُسَمًّى مراد دَدے نه هر شپه او ورځ دَ دے دواړو غروب دے یا مراد دے نه ورځ دَ قیامت ده۔ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ رَبُّكُمْ دا نتیجه ده دَ ټولو دلیلونو او دَ ذکر دَ نعمتونو چه په هغے کښې تصرف او علم دَ الله تعالیٰ ذکر شویدے او دَ رب نه مراد معبود او حاجت روا دے۔ لَهُ الْمُلْكُ مخکښې ئې تصرف ذکر کړو نو په دے کښې بادشاهي (تدبیر) دَ الله تعالیٰ ذکر کوي۔ وَالَّذِينَ تَدْعُونَ دا رد دے په شرک فی الدعا باندے په دَ نفي دَ ملک سره دَ هر معبود من دون الله نه۔ وَالَّذِينَ دا لفظ حقیقت دے په ذوی الروح او ذوی العقولو کښې او بتانو ته مجازًا شامل دے نو دے کښې تمام معبودات من دون الله داخل دي او تفسیر روح المعاني کښې هم دغسے لیکلي دي۔ قِطْمِيرٍ هغه نرے پوستکے چه دَ هډوکي دَ کجورے نه چاپیره وي دا دَ عرب په اصطلاح کښې په مثال دَ قلت دَ ملکیت کښې ذکر کیږي۔

إِنْ تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ ۚ وَلَوْ سَمِعُوا

که چیرے تاسو بلنه ورته کوئ (دپاره دحاجت پوره کولو) نو نه اوری بلنه ستاسو او که فرض کړو چه اوری

مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ

نو نشي پوره کولے حاجت ستاسو او په ورځ د قیامت کښ به انکار اوکړی

بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ ﴿١٤﴾

ستاسو د شرک نه او خبر نشي درکولے تاته پشان د خبردار ذات (چه الله تعالیٰ دے)

اوفتیل او نقیر په قلت د خیز کښ ذکر کیږی اګرچه ملکیت ورسره نوی ذکر کړے او په دے کښ اشاره ده چه دا معبودان من دون الله خو دا قدرت هم نه لری چه دغه پوستکے د هډوکی د کجورے نه روغ او سالم را جدا کړی.

سلا:- دارد دے په شرک فی الدعا په طریقه په نفی د علم او د استجابت د دعا د معبود من دون الله نه. او تفسیر قرطبی او روح المعانی او نور مفسرینو لیکلی دی چه دا آیت ملائکو، جناتو، انبیاؤ، شیاطینو او بتانو ټولو ته شامل دے.

لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ، مفسر آلوسی روح المعانی کښ لیکلی دی چه بتان خو ځکه نه اوری چه جمادات دی او ملائک انبیاء او اولیاء (ژوندی) د دے وجے نه اوری چه لرے وی د دے مشرکانو نه او اسباب هم مینځ کښ نیشته یا د دے وجے نه چه الله تعالیٰ د هغوی غوګونه بچ ساتی د داسے شرکی او قبیح آوازونو نه د پاره د دے چه خفه نه شی (او په تفسیر د سورة احقاف کښ لیکلی دی) چه کوم معبودان چه مړهٔ دی هغوی نه اوری ځکه چه مړی اوریدل نشی کولے.

فائده :- دا آیت قطعی الدلالة دے په دے مسئله کښ چه مړی بزرګان د مشرکانو شرکی آوازونه بالکل نه اوری که نزدے وی او که لرے وی. لفظ د دُعَاءَكُمْ په دے بانډے دلیل دے چه مراد د دے نه حاجت غوښتل دی او هرچه په مسئله د نفی سماع موتیٰ مطلقاً کښ ده نو دا صریح نه دے بلکه احتمالی دے. او د دے وجے نه عائشه رضی الله عنها او امام ابوحنیفه رحمة الله دا آیت په دلیل د نفی سماع موتیٰ کښ نه دے ذکر کړے. وَلَوْ سَمِعُوا لو د پاره د فرض کولو راځی یعنی سماع نیشته لیکن که فرض کړو چه شته نو مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ یعنی مقصد د مشرک خو حاجت پوره کیدل دی او هغه خو دا معبودان بالکل نشی کولے.

فائده :- استجابت شامل دے دعا غوښتلو ته یعنی که ته (پاتے په بل مخ)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ أَنتُمُ ٱلْفُقَرَآءُ إِلَى ٱللَّهِ ۖ
اے خلقو تاسو ټول محتاج یئ الله تعالیٰ ته

وَٱللَّهُ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿١٥﴾ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ
او الله تعالیٰ خاص هغه بے حاجته ستائیلے شویدے. که چرے اوغواړی فنا به کړی تاسو

وَيَأْتِ بِخَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٦﴾ وَمَا ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ
او رابه ولی مخلوق نوے او نه دے دا کار په الله تعالیٰ باندے

بِعَزِيزٍ ﴿١٧﴾ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ
گران . او نه شی پورته کولے یو پیټی والا پیټے (د ګناهونو) د بل چا

دوی ته اُولئ چه زما د پاره دُعا اوغواړے نو دُعا هم تشی غوختلے نو معلومه شوه چه څوک وائي چه هر کله ثابته شی چه مری "اوری نو بیا دُعا غوختل ترینه هم جائز شو دا غلطه خبره ده په دے کښ ملازمه نیشته او دا سے په حدیث د بدر کښ هم راغلی دی چه دوی اوس "اوری لیکن جواب نشی ورکولے . بِشِرْكِكُمْ مراد د شرک نه طلب د حاجت دے د دوی نه ځکه چه دا شرک فی الدعا دے او دا انکار د دوی ذکر شویدے په سورة یونس ۲۹ کښ او په سورة احقاف ۵ ۔ ۶ کښ . مِثْلُ خَبِيرٍ مراد د خبیر نه الله تعالیٰ دے یعنی که څوک سماع او استجابت د دے معبودانو من دون الله ثابتوی په اقوالو د اهلِ علم وغیره سره نو جواب دا دے چه د هغوی قول د خبیر ذات په مقابله کښ هیڅ حیثیت نه لری .
۱۵ . د دے ایت نه تر ۳۸ پورے دویم باب دے په دے کښ دوه عقلی دلیلونه دی بیا تخویف اخروی بیا مثالونه بیا تسلی نبی صلی الله علیه وسلم ته بیا تفصیلی بشارت او تخویف د دے په ۱۵ کښ تهم عقلی دلیل دے . الْفُقَرَآءُ معرف دلالت کوی په کامل فقر باندے په هر څیز او په هر حالت کښ که نبی وی یا ولی یا مالدار وی یا مسکین وغیره . اِلَی اللّٰهِ لفظ د الی د انتها د پاره دے یعنی د یو انسان احتیاج که بل انسان ته وی نو هم د هغے اخری انتهاء الله تعالیٰ ته ده او اخری انتهاء ته اعتبار دے . الْغَنِيُّ دا ئے هم معرف ذکر کړه ځکه چه مراد تربیت کامله غنا ده چه هغه عدم احتیاج دے او انسان که ډیر مالدار وی نو هم محتاج دے . الْحَمِيدُ دا صفت ئے د دے وجے نه ذکر کړو چه یو انسان چه د خلقو نه ځان بے پروا کړی نو د هغه بدی ویلے کیږی او د الله تعالیٰ سره د غنا کامل نه حمد ویلے کیږی ځکه چه مخلوق لره نعمتونه او فائدے ورکوی .
۱۶ ۔ ۱۷ دا دواړه د مخکښ دلیل سره متعلق دی یعنی تصرف کلی او غناء کامله

وَإِن تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَىٰ حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ

او كه چرے آواز وركړى يو دروند بارے خپل بار ته نو نشى پورته كيدے د هغه نه

شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۗ إِنَّمَا تُنذِرُ الَّذِينَ

هيڅ څيز اګر چه خپلوے والا دى يقينًا ستا ويره اثر كوى په هغه كسانو باندے

يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ ۚ

چه ويريږى د رب خپل نه په حالت د نه ليدلو كښ او پابندى كوى د مونځ

وَمَن تَزَكَّىٰ فَإِنَّمَا يَتَزَكَّىٰ لِنَفْسِهِ ۚ

او چا چه ځان پاک كړو نو يقينًا پاكول كوى د پاره د فائدے د ځان خپل

وَإِلَى اللَّهِ الْمَصِيرُ ﴿١٨﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَعْمَىٰ

او خاص الله تعالىٰ ته ګرځيدل دى ۔ او برابر نه دے روند

دَ هغه ذكر كوى إِن يَشَأْ اشاره ده چه ستا سو په فنا كولو كښ دَ بل چا مشيت اوخوښے ته محتاج نه دے هم دا سے سورة ابراهيم سـ۱۹ ـ سـ۲۰ كښ تير شوے دى۔
سـ۱۸ :۔ روستو دَ دليلونو دَ توحيد او دَ رد دَ شرک نه تخويف دے يعنى لكه چه دَ مشرک حاجت روائى په دنيا كښ معبودان من دون الله نشى كولے نو دا رنګ په آخرت كښ هم دَ دهٔ پيټے دَ ګناه هغه مشركان پيران وغيره نشى پورته كولے چا چه دهٔ ته شرک خودلے۔ وَإِن تَدْعُ الخ په اوله جمله كښ مطلب دا وو چه بغير دَ طلب نه هيڅوک پيټے نشى اوچته ولے او په دے جمله كښ مطلب دا دے چه په طلب او منت زارے سره هم دَ مشرک پيټے بل څوک نشى پورته كولے۔ دا رنګ په اول كښ ټول پيټے پورته كول مرادى او په دويمه جمله كښ بعضے حصّه دَ پيټى مراد ده۔
إِنَّمَا تُنذِرُ الخ تسلى ده نبى صلّى الله عليه وسلّم ته يعنى دَ ګناه (وزر) نه بچ كيدلو د پاره بله لار نيشته سِوا دَ انذار نه۔ دا رنګ هر كله چه دليلونه تفصيلاً بيان شول خو ليكن مشركانو ضد يانو ته فائده نه وركوى نو نبى صلّى الله عليه وسلّم ته ئے تسلى وركړه چه ستا انذار خشيت والو ته فائده وركوى۔ او دَ خشيت ظاهرى نخه اقامة الصلوة دے نو أَقَامُوا الصَّلَاةَ ئے دَ دے وجے نه ذكر كړو۔ وَمَن تَزَكَّىٰ دا دَ انذار فائده ده۔

وَالْبَصِيرُ ﴿١٩﴾ وَلَا الظُّلُمٰتُ وَلَا النُّورُ ﴿٢٠﴾

او ليدونكے او نه تيارے او نه رنړا .

وَلَا الظِّلُّ وَلَا الْحَرُورُ ﴿٢١﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْأَحْيَاءُ

او نه سورے او نه ګرمي . او نه دي برابر ژوندي

وَلَا الْأَمْوَاتُ ۚ إِنَّ اللّٰهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ ۚ

او نه مړي يقيناً الله تعالى اوروول كوي چا ته چه اوغواړي

وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُورِ ﴿٢٢﴾

او نه يئ ته اوروونكے . هغه چا ته چه په قبرونو كښ دي .

س ١٩ س ٢٠ س ٢١ :- دا علّت دے دَپاره دَ تخصيص دَ انذار په خشيت والو پورے يعنى خشيت والو ته انذار فائده وركوي او نورو ته فائده نه وركوي ځكه چه دَ دوي په حالاتو كښ ډير فرق دے - او دا مثالونه دَپاره دَ اثبات دَ فرق په مينځ دَ مؤحد (خشيت كوونكى) او ضدى عنادى كښ دى - اول مثال چه دا عنادى پشان دَ ړوند دے او مؤحد پشان دَ بينا دے لكه چه دَ دے دواړو په مينځ كښ په ليدلو دَ رڼا او تيرو او په ليدلو دَ مضراتو او مفيد څيزونو او صحيح لار او غلطه لار وغيره كښ فرق دے نو دا رنګ دَ مؤحد او مشرك په مينځ كښ هم په دغه امورو كښ فرق دے -
دويم مثال يعنى كفر او شرك او دَ هغے دليلونه پشان دَ ظلماتو دى او توحيد دَ ايمان او دَ هغے دليلونه پشان دَ نُور دى - دريم مثال يعنى دَ توحيد او دَ ايمان نتيجه او عوض په دنيا او اخرت كښ آرام دے او هغه په شان دَ سورى دے او دَ كفر و شرك عاقبت په دنيا او اخرت كښ عذاب او سخت ژوند دے او هغه پشان دَ حرور (سخته ګرمي) دے - حاصل دا چه دَ دوي په مدعاګانو او دليلونو او نتيجو درے واړو كښ فرق دے، او دے ته فرق كامل ويلے كيږي .
س ٢٢ :- دا څلورم مثال دے او مؤحدين (خشيت كوونكى دَ الله تعالىٰ نه) پشان دَ ژوندو دى چه ټول قوتونه او حواس ئے كاركوي (اوريدل ، ليدل، پوهيدل) او مشركان عناديان پشان دَ مړو دى چه ټول قوتونه او حواس ئے بے كار شويدى يعنى مړى نه اورى او نه ويق او نه پوهيږى نو دا رنګ عنادى مشرك هم (صُمٌّۢ بُكْمٌ عُمْيٌ) دے -

فائده :- په دے څلورم كښ مَا يَسْتَوِي ئے دوباره ذكر كړو دَ دے وجه نه چه

إِنْ أَنْتَ إِلَّا نَذِيرٌ ﴿٢٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ

نه یې ته مګر ویره ورکوونکے یې ـ یقینًا لیږلے یې مونږ ته په حقه سره

بَشِيرًا وَنَذِيرًا ۚ وَإِنْ مِنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا

زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے او نیشته دے هیڅ امت مګر تیرشویدے په هغې کښې

نَذِيرٌ ﴿٢٤﴾ وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ

ویره ورکوونکے ـ او که دوی تا ته دروغژن وائي نو یقینًا دروغژن ویلي (پیغمبرانو ته) هغه کسانو

دَ مړی او ژوندی په مینځ کښې من کل الوجه فرق دے او هرچه ځکنې درے دی نو کله کله یو بل ته نزدے کیدے شي لکه چه اعمٰی دَ پاره دَ زړه بصیرت وی نو بصیر ته نزدے شي او چه په تیرو کښې چراغ اولګی نو نُور ته نزدے شي او په ګرمے کښې دیخنۍ اسباب استعمال شي نو سوری ته نزدے شي لیکن په مړو کښې دا سے تغیّیر نشي راتللے چه هم دے مړوی او هم دے په هغه کښې دَ ژوندی صفت پیدا شي. اومراد دَ حیاة نه حیاة دنیویه دے ـ إِنَّ اللَّهَ يُسْمِعُ مَنْ يَشَاءُ ۖ وَمَا أَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَنْ فِي الْقُبُورِ دا پنځم مثال دے سره دَ تسلّۍ دَ رسول صلّی الله علیه وسلّم نه او متعلق دے دَ انما تنذر سره ـ دَ دے مثال مطلب او حاصل دا دے چه هغه کافران ضدیان مشابه دی دَ هغه بدنونو سره چه په قبرونو کښې دفن کړے شوے دی چه په هغوی کښې روح نیشته او نه اوری نه وینې او نه پوهیږی دَ دنیا په حال باندے. نو دا رنګ دا کافران هم نه اوری او نه پوهیږی نو ته دوی ته اورول نشې کولے بلکه اورول دَ الله تعالیٰ په قدرت کښې دی. دا آیت هم دلیل دے چه مړی دَ دنیا والو خبرے نه اوری او نه دوی لره پیږنی ـ دَ دے تشریح په تفسیر دَ سورة روم کښې ذکر کړے شویده ـ

فائده :ـ مَنْ فِي الْقُبُورِ ـ په قبر کښې صرف بدن پروت دے هغه بالکل نه اوری او هرچه روح دے نو په قبر کښې نیشته او حیات او اوریدل خو په روح سره کیږی ـ

ف۲۳ :ـ دا هم تسلّی ده چه ستا کار انذار دے او رول ستا ذمه واری نه ده ـ

ف۲۴ :ـ دا هم تسلّی ده او تفصیل دَ صفت دَ انذار دے او مراد دَ نذیر نه پیغمبر دے دَ دے وجے نه تیرشوے امتونه یې ذکر کړل ـ

مِنْ قَبْلِهِمْ ۚ جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

چه د دوی نه مخکښ وو راغلي وو هغوی ته رسولان د هغوی په ښکاره دليلونو

وَبِالزُّبُرِ وَبِالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ ﴿۲۵﴾ ثُمَّ اَخَذْتُ

او د وعظ په خبرو او په كتاب رڼا والا سره - بيا اونيول ما

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَكَيْفَ كَانَ نَكِيْرِ ﴿۲۶﴾ ع

هغه كسان چه كفر ئې كړے وو نو څه رنګه شو عذاب زما

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ

آيا نه ګورے ته چه يقينًا الله تعالىٰ راوړولے دى د آسمان د طرف نه او به

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ ثَمَرٰتٍ مُّخْتَلِفًا اَلْوَانُهَا ۭ

نو راوباسو موږ په هغې سره ميوے (غلے) چه مختلف دى رنګونه د هغے

وَمِنَ الْجِبَالِ جُدَدٌۢ بِيْضٌ وَّحُمْرٌ مُّخْتَلِفٌ

او د غرونو نه ټكړے سپينے او سرے مختلف دى

اَلْوَانُهَا وَغَرَابِيْبُ سُوْدٌ ﴿۲۷﴾ وَمِنَ النَّاسِ

رنګونه د هغوى او د كارغانو په شان تك تور دى - او د انسانانو

۲۵ ـ ۲۶ :- دا هم تسلّي ده او جواب د شرط حذف دے يعنې (فاصبر، صبر كوه) -
اَلْبَيِّنٰتِ مراد د دے نه معجزات دى يا ښكاره احكام چه په صرف عقل سره معلوميږي
چه دا صحيح دى يعنې عقلي دليلونه - وَالزُّبُرِ واړه كتابونه يعنې صحيفے يا د وعظ او
نصيحت خبرے - وَالْكِتٰبِ الْمُنِيْرِ مراد ترينه غټ كتاب دے لكه تورات انجيل او نسبت
د درے واړو څيزونو ټولو انبياؤ ته دے په طريقه د مجموعه سره يعنې بعضے انبياؤ
په دے كښ يو څيز راوړے دے او بعضو دوه څيزونه راوړيدى او بعضو درے واړه
راوړيدى لكه موسىٰ عليه السّلام - ثُمَّ اَخَذْتُ په دے سره تخويف دے منكرينو ته -
۲۷ :- دا اسم دليل عقلي دے په دے كښ هم اختلاف د ثمراتو او اختلاف د غرونو
په رنګونو كښ ذكر كوى هر كله چه په تير شوے دليلونو كښ عام خطاب مشركانو
ته ذكر شو ليكن هغوى ترينه فائده نه اخلي او د هغوى تكذيب ذكر كړے شو
نو اوس خاص خطاب كوى نبي صلّى الله عليه وسلّم ته او هغه چاته چه د دے

وَالنَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْاَنْعَامِ مُخْتَلِفٌ اَلْوَانُهٗ كَذٰلِكَ ؕ

او د خلقو او ژوندو سرو او څارویو نه مختلف دي رنګونه د هغوی د غه شان

اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ اِنَّ

یقینًا ویریږي د الله تعالیٰ نه د بندګانو د هغه نه عالمان یقینًا

اللّٰهَ عَزِيْزٌ غَفُوْرٌ ﴿۲۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ

الله تعالیٰ زورآور او بخنه کوونکې دے. یقینًا هغه کسان چه لولي

خطاب اهلیت لري -

فائده :- هرکله چه په میوو او غلو کښې د اختلاف قسمونه بے شماره دي نو صرف اجمالي اختلاف یې ذکر کړو او په غرونو کښې اختلاف لګ دے. بیا اصول د رنګونو درے دي سپین سور او تور. بیا د ګډون د سپین او سور نه نور رنګونه هم جوړیږي نو د هغې نه روسته مختلف الوانها ذکر کړل. جُدَدٌ د مختلفو لارو ته وائي او مختلفو ټکړو ته هم ویلے کیږي. غَرَابِيْبُ سُوْدٌ، سود بدل دے د غرابیب نه ځکه چه غرابیب د غراب نه دے او په غراب (کارغه) کښې بعضے خړ رنګ وي نو په سود سره یې د هغه وضاحت اوکړو چه دلته تور مراد دي او هرکله چه سپین او سور یو بل سره مناسبت لري او تور د هغې نه ډیر مخالف رنګ دے د دے وجے نه غرابیب یې جدا ذکر کړو.

۲۸ :- دا یوولسم دلیل عقلي دے په دے کښې اختلاف د اهل روح ذکر کوي په رنګونو کښې. او هرکله چه مِنْ په معنیٰ د بعض دے نو ضمیر د مذکر یې په اَلْوَانُهٗ کښې هغې ته راجع کړو او د دے دپاره چه فرق وا ضح شي په مینځ د ذوي الروح او غیر ذوي الروح کښې. اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا دا متعلق د انما تنذر الذين يخشون ربهم سره دے یعنی هرکله چه مثالونه او دلیلونه بیان شول نو سوال پیدا شو چه د دے نه اثر قبلوونکي څوک دي؟ نو په دے جمله کښې د هغې جواب دے چه د تاثیر د قرآن دپاره علم ضروري دے. یعنی خشیت موقوف دے په معرفت د قدر او د شان د مخشي رهغه څوک چه د هغه نه ویره کیدیشي) پورے نبي صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي اني لا علمكم بالله واخشاكم له. او معرفت د قدر او شان په علم سره دے نو څوک چه د الله تعالیٰ شان، قدر، اسماء او صفتونه نه پیژني نو هغه د الله تعالیٰ نه نه ویریږي اګرچه په خولے

باقي په بل مخ

كِتٰبَ اللّٰهِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا

کتاب دَ الله تعالیٰ او پابندی کوی دَ مونځ او خرچ کوی دَ هغې نه

رَزَقْنٰهُمْ سِرًّا وَّعَلَانِيَةً يَّرْجُوْنَ تِجَارَةً

چه ورکړے دی مونږ دوی ته پټا او ښکاره امید لری دَ سوداګرئ

لَّنْ تَبُوْرَ ﴿۲۹﴾ لِيُوَفِّيَهُمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدَهُمْ

چه نه بیکاره کیږی. دَدے دَپاره چه پوره ورکړی دوی ته اجرونه دَدوی او زیات ورکړی دوی ته

باندے دعوے دَایمان کوی. دا ایت صریح دلیل دے په فضیلت دَ علم باندے دَ هغه عبادت نه چه بغیر دَ علم نه وی.

فائده: سفیان ثوری رحمة الله نه ابن کثیر نقل کړیدی چه علماء درے قسمه دی اول قسم عالم بالله وبامرالله یعنی هغه چه دَ الله تعالیٰ اسماء او صفات او عظمت شان باندے علم لری او دا په قرآن کریم سره حاصلیږی او هغه چه فرائض او حدود او احکام پیژنی او دا په حدیث او فقه سره حاصلیږی او دا اعلیٰ قسم دے. دویم قسم عالم بالله فقط یعنی دَ الله تعالیٰ دَ اسماؤ او صفاتو نه ښهٔ علم لری لیکن دَ احکام او حدود علم ورسره تفصیلی نه وی یعنی په قرآن باندے عالم وی لیکن احادیث او فقه باندے پوره علم نه لری. دریم قسم عالم با مرالله فقط یعنی په احکامو او فرائضو باندے پوره عالم وی لیکن دَ الله تعالیٰ اسماء او صفاتو او دَ عظمت نه پوره علم نه لری. نو په دے مقام کښ دَ علماء نه مراد اول او دویم قسم دے چه هغوی دَ الله تعالیٰ نه ویره کوی اګرچه اول زیات خشیت لری په نسبت دَ دویم او هرچه دریم قسم دے نو دَ هغه په زړه کښ خشیت نه وی او دَ دے دِ نه هغهٔ علماء چه په فقه او فنون کښ مهارت لری لیکن دَ قرآن او حدیث نه پوره واقف نه وی نو په هغوی کښ شرک او بدعات ډیروی او هغه په نیز دَ الله تعالیٰ عالم نه دے.

س ۲۹: هرکله چه مخکښ خشیت والا ذکر کړل چه دا علماء دی نو په دے ایت کښ دَ هغوی کردار او بشارت ذکر کوی. يَتْلُوْنَ مراد دَ دے نه دوام دَ تلاوت او دَ درس و تدریس دَ ایا تو نو دے سرهٔ دَ علم او عمل کولو نه.

فائده: خشیت عبادت قلبیه دے او تلاوت عبادت لسانیه دے او اقامة الصلوة عبادت بدنیه دے او انفاق عبادت مالیه دے. تِجَارَةً مراد ترینه

مِنْ فَضْلِهٖ ۭ اِنَّهٗ غَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ۝۳۰

دَ فضل خپل نه یقیناً الله تعالیٰ بخښونکے دے قبلوونکے دے۔

وَالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ مِنَ الْكِتٰبِ

او هغه چه وحی درلیږلے ده مونږ تاته چه کتاب دے

هُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ ۭ

هغه حق دے رښتیا کوونکے دے دَ هغه کتابونو چه دَ دهٔ نه مخکښ دی

اِنَّ اللّٰهَ بِعِبَادِهٖ لَخَبِيْرٌۢ بَصِيْرٌ ۝۳۱ ثُمَّ

یقیناً الله تعالیٰ په بندګانو خپلو باندے خبردار دے لیدونکے دے۔ بیا

اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا ۚ

ورکړو مونږ کتاب هغه کسانو ته چه غوره کړے دی مونږ دَ بندګانو خپلو نه

فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ ۚ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ ۚ

نو بعض دَ دوی نه ظلم کوونکی دی په ځان خپل باندے او بعض دَ دوی نه میانه روه دی

رع (لنډه) دَ تجارت ده او دا ذکر دے په سورة توبه ۱۱۱ کښ یعنی تجارت ئې الله تعالیٰ لره کړیدے نو دَ هغے دَ کمے اومیداونه لری۔

۳۰:۔ دالام دَ عاقبت دے متعلق دے په یرجون پورے یا لام صله ده دَ فعل پټ یعنی فعلوا ذٰلك لِيُوَفِّيَهُمْ۔ غَفُوْرٌ غټ او واړه ګناهونه بخی او شَكُوْرٌ لګ عمل صالح هم قبولوی یا دا لف نشر مرتب دے۔

۳۱:۔ هرکله چه تیرشوی ایاتو نو کښ بشارت دَ عالمانو دَ اٰیٰتِ الٰهیه ذکر کړو نو په دے ایت کښ دَ اٰیاتِ الٰهیه چه کتاب الله دے دَ هغے صداقت او مرتبه ذکر کوی۔ مِنَ الْكِتٰبِ مِن تبعیضیه دے یا بیانیه دے په لفظ دَ مِنْ کښ اشاره ده چه دَ قرآن هرجزء حق دے۔

وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرٰتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

او بعض ددوی نه وړاندې کیږي په ښیګڼو کارونو سره په توفیق د الله تعالی سره

ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ ۳۲ جَنّٰتُ

دا چه دے فضل ډیر لوی دے. باغونه

عَدْنٍ يَّدْخُلُوْنَهَا يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ

د هیشوالی چه داخلیږی په هغے ته کالی به اچولے کیږی دوی ته د بنګړو

مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۚ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا

د سرو زرو نه او ملغلرے او جامے ددوی په هغے کښی

۳۲: په دے آیت کښی د اصحاب قرآن درے درجے ذکرکوی او هغوی ته بشارت دے. ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتٰبَ ثم دپاره د تعقیب ذکری دے نه دپاره د تراخی د زمان ځکه چه مخکښې د قرآن نزول ذکرکړے دے او دا د هغے تفصیل دے.
الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا صحابه کرام دی او روستو د هغوی تابعداران. اَوْرَثْنَا په معنی د ورکولو سره دے لیکن په ارث سره تعبیر کولو کښی اشاره ده چه دوی د قرآن مستحق دی لکه وارث چه د میراث حق داروی. او اَصْطَفَاءُ نه مراد دادے چه دوی له ئے توفیق د دین اسلام د منلو ورکړے دے لکه چه كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ او كَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ اُمَّةً وَّسَطًا کښی ذکرشویدی فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ دا تقسیم دے په الَّذِيْنَ اصطفینا کښی ضمیر ئے راجع دے الذین ته. او مفسر قرطبی او خطیب شربینی او نورو مفسرینو حدیث مرفوع نقل کړیدے چه دا ټول به جنت کښی داخلیږی. او قرطبی د شپږو صحابه کرامو نه نقل کړیدی چه دا ټول قسمونه په مؤمنانو کښی دی او مراد د ظَالِمٌ نه هغه مؤمن دے چه ګناهونه ئے ډیر دی د نیک اعمالو نه او لِنَفْسِهٖ کښی اشاره ده چه ظلم د ده ئے بل چاته متعدی نه دے یعنی بل څوک کمراهئ ته نه رابلی او مُقْتَصِدٌ نه مراد هغه دے چه ګناهونه او طاعتونه ئے برابر دی او سَابِقٌ هغه دے چه ګناهونه ئے لګ دی په نسبت د طاعاتو او په دے کښی ثعلبی او قرطبی تر شپاړسو پورے اقوال ذکرکړے دی. او ظالم ئے مخکښی راوړے دے ځکه چه په امت کښی اول قسم ډیر دی د دویم نه او دویم ډیر دی د دریم نه او یادا ترقی ده د ادنی نه اعلی ته. بِاِذْنِ اللّٰهِ مراد دادے چه دا مرتبے د الله تعالی په تقدیر سره حاصلے شویدی ذٰلِكَ اشاره ده اصطفاء ته یا کتاب ورکولو ته.

حَرِيْرٌ ﴿٣٣﴾ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْٓ اَذْهَبَ

ریښم دی . او دوی به وائی د خدائے صفتونه دیو الله تعالیٰ دی هغه ذات چه لرے ئے کړو

عَنَّا الْحَزَنَ ۭ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرُ ﴿٣٤﴾

زمونږ نه ټول غم یقیناً رب زمونږ ضرور بخنه کوونکے قبلوونکے دے .

الَّذِيْٓ اَحَلَّنَا دَارَ الْمُقَامَةِ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ

هغه ذات دے چه راوستلے ئے کړو مونږه کور د دیره کیدلو ته د وجے د فضل خپل نه

لَا يَمَسُّنَا فِيْهَا نَصَبٌ وَّلَا يَمَسُّنَا فِيْهَا

نه به رسیږی مونږ ته په دے کښ هیڅ تکلیف او نه به رسیږی مونږ ته په دے کښ

لُغُوْبٌ ﴿٣٥﴾ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَهُمْ نَارُ

ستړے والے . او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے دوی د پاره اور

جَهَنَّمَ ۚ لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ فَيَمُوْتُوْا

د جهنم دے فیصله به نه کیږی په دوی باندے (د مرګ) چه مړه شی

۳۳ ۳۴ ۳۵ :. په دے ایاتونو کښ بشارت دے درے وارہ اقسامو ته په بیان د لس

حالاتو د خوشحالئ سره او د ایت په اول کښ لفظ د لهم مقدر دے یعنی لهم جنات عدن.

اَسَاوِرَ په دے تخصیص کښ اشاره ده چه دوی به د کارکولو نه فارغ وی ځکه

چه په لاسونو کښ کالی د هغهٔ چاوی چه پخپله هیڅ خدمت او کار نه کوی.

وَلُؤْلُؤًا دا عطف دے په محل د اساور باندے او هرکله چه دا د ټول بدن سره

تعلق لری د دے وجے نه دا ئے د اساور نه په بیل طریقه سره ذکر کړو.

الْحَزَنَ مراد د دے نه ټول غمونه د دنیا او د اخرت دی. غم د اور د جهنم غم د

مرګ غم د ګناهونو غم د حساب غم د میزان غم د زوال د نعمتونو غم د روزئے غم

د عاقبت. دَارَ الْمُقَامَةِ په دے کښ اشاره ده چه جنت ته روانیدے دنیا او قبر

او میدان حشر ټول د انتقال ځایونه دی نَصَبٌ ستړے کیدل د بدن په محنت

یا په مرض وغیره. لُغُوْبٌ ستړے کیدل د نفس په غمونو او تکلیفونو سره.

وَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمْ مِّنْ عَذَابِهَا ؕ كَذٰلِكَ

او نه به شي سپکېدلے دَ دوی نه دَ عذاب دَ هغې نه دغه شان

نَجْزِيْ كُلَّ كَفُوْرٍ ﴿۳۶﴾ ج وَهُمْ يَصْطَرِخُوْنَ

سزا ورکوو مونږ هر منکر ته . او دوی به چغې وهي

فِيْهَا ۚ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا نَعْمَلْ صَالِحًا غَيْرَ الَّذِيْ

په هغې کښې اے ربه زمونږه اوباسے مونږه عملونه به کوو د سنت برابر بېسوا دَ هغه

كُنَّا نَعْمَلُ ؕ اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَّا يَتَذَكَّرُ

عملونو چه مونږ کول (او به ویلے شي) آیا عمر نه وو درکړے مونږ تاسو ته دومره چه نصیحت قبول کړے وو

فِيْهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَآءَكُمُ النَّذِيْرُ ؕ

په هغې کښې چا چه نصیحت قبلوؤ او راغلے وو تاسو ته ویره درکوونکے

فَذُوْقُوْا فَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۳۷﴾ ع ع ۴ ۱۶

نو اوڅکئ نیشته دَ ظالمانو دَ پاره هیڅ مدد ګار .

اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

یقیناً الله تعالیٰ عالم دے په پټو څیزونو دَ اسمانونو او دَ زمکے

۳۶ :- دا تخویف اخروی دے منکرینو لره په درے حالتونو سره . لَا يُقْضٰى عَلَيْهِمْ یعنی په دوی باندے دَ دویم مرګ حکم نشي کېدلے اګرچه دوی به مطالبه کوی ونادوا یا مالك لیقض علینا ربك (زخرف ۷۷) او اشاره ده چه مرګ بغیر دَ حکم دَ الله تعالیٰ نه نشي راتللے .

۳۷ :- دا هم تخویف دے په ذکر دَ څلورو طریقو سره . غَيْرَ الَّذِيْ كُنَّا نَعْمَلُ دا لفظ دلیل دے چه دوی به خپلو عملونو ته صالح ویل (ویحسبون انهم یحسنون صنعا) اوس ورته معلومه شوه چه هغه عملونه صالح نه وو ځکه دا قید ئې اولګوؤ . اَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ دَ دے نه مخکښې یقال پټ دے یعنی او به ویلے شي دوی ته په ډېره زورنې سره . مَا يَتَذَكَّرُ فِيْهِ حدیث دَ بخاری کښې چا لره الله تعالیٰ شپېته کاله عمر ورکړے وی نو دده هره بهانه ئې روکه کړے ده . النَّذِيْرُ مراد دَ دے نه پیغمبر دے یا کتاب الله دے یا هر داعی دَ حق دے یا بوډاوالے (سپین ویښته دَ ویښتو دے).

إِنَّهُ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۳۸﴾ هُوَ الَّذِي
یقیناً هغه پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو دَ خلقو کښې دی. خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے
جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ فِي الْأَرْضِ ۚ فَمَن كَفَرَ
جوړکړے یې تاسو یو بل پسے آبادوونکی په زمکه کښې
فَعَلَيْهِ كُفْرُهُ ۖ وَلَا يَزِيدُ الْكَٰفِرِينَ
نو چا چه کفر اوکړو
نو په هغه باندے به سزا دَ کفر دَ هغه وی او نه
زیاتوی کافرانو لره
كُفْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ إِلَّا مَقْتًا ۖ وَلَا يَزِيدُ
کفرکول دَ هغوی په نیز دَ رب دَ هغوی مګر غصه
او نه زیاتوی
الْكَٰفِرِينَ كُفْرُهُمْ إِلَّا خَسَارًا ﴿۳۹﴾ قُلْ
کافرانو لره کفرکول دَ هغوی مګر تاوان -
ته اُوایه -

س۳۸ :- دا دریم باب دے تر آخره دَ سورت پورے په دے کښې درے عقلی دلیلونه دی او طلب دَ دلیل دے دَ مشرکانو نه او زجر دے اهل شرک ته او په آخر کښې تخویف دنیوی تفصیلی دے. په دے (س۳۸) کښې یو اُولسم عقلی دلیل دے په باره دَ علم غیب دَ الله تعالیٰ کښې. او په دے کښې اشاره ده جواب دَ مشرکینو ته یعنی الله تعالیٰ عالم دے په دے خبره باندے که تاسو دنیا ته واپس اوګرځوی نو بیا هم تاسو عمل صالح نه کوئے.

س۳۹ :- دا دولسم دلیل عقلی دے یعنی هر کله چه الله تعالیٰ عالم دے په هر څیز باندے نو دَ دے وجے نه تاسوله یې دَ استعداد موافق خلافت درکړے دے. خَلَٰٓئِفَ یو بل پسے آبادوونکی دَ زمکے یا روستنی امتیان خلیفګان دی دَ تیر شوو امتونو. خَلِيفَة هغه څوک چه نائب وی دَ بل چا ته په کار چلولو دَ هغه کښې. او هر کله چه الله تعالیٰ نائب ته محتاج نه دے دَ دے وجے ابوبکر رضی الله عنه لفظ یا خلیفة الله یا کنړلے دے او خلیفة رسول الله صلی الله علیه وسلّم یې غوره کړے دے او دا تفسیر قرطبی کښې ذکر دی. فَمَن كَفَرَ یعنی خلافت په تاسو باندے نعمت او احسان دَ الله تعالیٰ دے او سره دَ دے نه چه چا کفر او ناشکری اوکړه نو وبال دَ کفر به خاص په هغهٔ باندے وی. وَلَا يَزِيدُ الْكَٰفِرِينَ یعنی څومره چه په کفر کښې ترقی کوی نو دومره دَ الله تعالیٰ غضب په هغه باندے زیاتیږی (پاتے په بل مخ)

أَرَءَيْتُمْ شُرَكَآءَكُمُ الَّذِينَ تَدْعُونَ

آیا پوهه یئ تاسو په باره د شریکانو ستاسو هغه چه تاسو یئ بلنه کوئے

مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَرُونِي مَاذَا خَلَقُوا

سوا د الله تعالیٰ نه او ښایئ ماته چه څه پیدا کړیدی

مِنَ الْأَرْضِ أَمْ لَهُمْ شِرْكٌ فِي السَّمَاوَاتِ

دوی د زمکے نه آیا دوی لره برخه ده په آسمانونو کښ

أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا فَهُمْ عَلَىٰ بَيِّنَتٍ مِّنْهُ ۚ

او یا ورکړے دے مونږ دوی ته کتاب نو دوی په ښکاره دلیل باندے دی د دغه کتاب نه

بَلْ إِن يَعِدُ الظَّالِمُونَ بَعْضُهُم بَعْضًا

بلکه وعدے نه کوی ظالمان بعض د دوی د بعضو سره

إِلَّا غُرُورًا ﴿٤٠﴾ إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ

مګر د دهوکے . یقیناً الله تعالیٰ راټینګوی آسمانو نه

او د غضب الٰهی په سبب د دے کافر خسران او تاوان زیاتیږی ځکه چه سرمایه د عمر یئ بے ځایه خرچ کیږی. او غضب الٰهی سبب دے او خسران مسبّب دے د دے وجے نه غضب یئ په خسران باندے مخکښ راوړے دے.

ف ۴ :- په دے آیت کښ زجر دے مشرکینو ته (چه مخکښ آیت کښ په من کفر سره ذکر شول) او طلب د دلیل دے په شرک باندے اول دلیل عقلی سفلی دویم دلیل عقلی علوی دریم دلیل نقلی او وحی د نازل کړے شوی کتاب نه دارنګ په سورة احقاف ف ۴ کښ هم ذکر دی. د سموات سره یئ شرک ذکر کړو خلق یئ نه دے ذکر کړے ځکه چه بره په آسمانونو کښ د شرکاؤ د خلق هیڅ امکان نیشته هاں د برخے د تصرف کولو دعوے کیدے شی.

آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا دا دلیل دے چه کتاب الٰهی دلیل کیدے شی بل کتاب دلیل نه دے

بَلْ إِن يَعِدُ الظَّالِمُونَ یعنی دلیلو ته نیشته بلکه خالص تقلید دے داکشران په مشرانو ګمراهانو پسے بے دلیله روان دی او ګمراهان (مشرکان) ورله دهوکه ورکوی باطله خبره ورته حقه ښکاره کوی شرک ورته توحید او بدعت ورته سنت ښکاره کوی.

وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَا إِنْ

او زمکه دَ خوځيدلو دَ خپل ځائے نه او که چرے دوي او خوځيدل نشي

أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهِ ۚ إِنَّهُ

رانيولے دوي لره هيڅوک روستو دَ خوځيدلو نه يقيناً الله تعالىٰ

كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾ وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ

صبر ناک بخښه کوونکے دے . او قسمونه کړے دي دوي په الله تعالىٰ باندې

جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَاءَهُمْ نَذِيرٌ

پاخه قسمونه خپل که چرے راغے دوي ته ويره ورکوونکے

لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى الْأُمَمِ ۖ

ضرور دوي به شي هدايت والا شي دَ هر يو دَ امتونو نه

فَلَمَّا جَاءَهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا ﴿٤٢﴾

نو هر کله چه راغے دوي ته ويره ورکوونکے نو زيات يې نه کړ دوي لره مګر نفرت -

٤١ :- دا يارلسم دليل عقلي دے هر کله چه دَ معبودان من دون الله عجز او کمزوري بيان شوه نو اوس الله تعالىٰ خپل عظمت شان بيانوي. اَنْ تَزُوْلَا مفعول له دے يعني لِئلا تزولا او كراهية ان تزولا يا مفعول ثاني دے يعني من ان تزولا يا بدل اشتمال دے دَ ماقبل نه- وَلَئِنْ زَالَتَا يعني که مشركان او وائي چه معبودان من دون الله تعالىٰ دَ دغه عذر دَ وجے نه اول امساک نشي کولے هغه يې الله تعالىٰ ته پريخودلے دے ليکن نور تصرفات کولے شي نو په دے جمله کښ دَ هغې جواب اوشو او اشاره ده چه دَ اسمانونو او زمکے زوال دَ خپلو ځايونو نه ممکن دے په انشقاق او زلزلے سره- اِنْ اَمْسَكَهُمَا دا جواب قسم دے چه معنىٰ دَ لام ده او جواب شرط چه اِنْ دے هغهٔ محذوف دے- اِنَّهٗ كَانَ حَلِيْمًا يعني دَ مخلوق دَ ګناهونو دَ وجے نه نزدے ده چه اسمانونه او زمکه زائله شي ليکن الله تعالىٰ حليم دے دَ مخلوق نه (چه مستحق دَ عذاب دي) عذاب روستو کوي-

٤٢ :- دا زجر دے په انکار دَ رسالت او په ماتولو دَ قسم سره. هر کله چه مشركين عرب ته معلومه شوه چه يهوديانو او نصاريٰ دَ خپلو رسولانو نه انکار کړے دے نو دوي قسم اوکړو چه که چرے موتږ ته رسول راغے ر پاتے په بل مخ)

اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ ط

دَ وجې دَ لوئې کولو نه په زمکه کښې (او کوی دوی) ناکاره چلونه ،

وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ ط

او نه راګیر دوی ناکاره چل ول مګر حقدار دَ هغې ،

فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ ج

نو انتظار نه کوی دوی مګر دَ طریقې دَ مخکښنو خلقو ،

فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا ۚ

نو اوبه نه مومې ته طریقې دَ الله تعالیٰ لره بدلیدل

وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا ﴿۴۳﴾

او هیڅرے او به نه مومې ته طریقې دَ الله تعالیٰ لره اوړیدل ۔

نو مونږ به دَ هغهٔ پوره تابعداری کوؤ۔ او ربط دَ مخکښنی آیت سره دا دے چه یهودیانو ته رسولانو دَ زمکے او آسمانونو دَ امساک (ټینګولو) په باره کښې کوم خبرورکړے وؤ نو دوی بدل کړے وؤ لکه چه تفسیر قرطبی کښې دَ تیر شوی آیت په تفسیر کښې دَ ابن مسعود او ابن عباس رضی الله عنهم نه نقل کړے دی چه هغوی دَ کعب الاحبار نه واوریدل چه آسمانونه دَ یو ملک (فرښتې) په اوګه باندے ګرځی نو هغوی پرے رد اوکړو۔ إِحْدَى الْأُمَمِ دا اضافت دَ پاره دَ استغراق دے یعنی دَ هر یو امت دَ امتونو مخکښنو نه چه یهود او نصاری دی۔
نُفُورًا اشاره ده تشبیه ته دَ اوښانو سره لکه چه یو اوښ دَ مالک نه او تختی او هغه ئې رابلی نو دَ دهٔ تختیدل نور هم زیات تیزیږی۔
سـ ۴۳:۔ اسْتِكْبَارًا بدل دے دَ نفورا نه او علت دے دَ پاره دَ نفرت کولو یا مفعول مطلق دے دَ پاره دَ فعل محذوف یعنی یستکبرون استکبارا۔ یا په معنیٰ دَ اسم فاعل دے او حال دے یعنی مستکبرین۔ فِي الْأَرْضِ په دے کښې اشارهٔ چه په کوز مکان کښې چه زمکه ده لوئی کول ضدین جمع کول دی۔ وَمَكْرَ السَّيِّئِ په دے کښې هم هغه درے احتمالونه دی کوم چه په استکبارا کښې وو او دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته یعنی مکر ناکاره۔ مراد دَ دے نه مؤمنانو او نبی صلی الله علیه وسلم سره دهوکے کول او دَ هغوی دَ تکلیف ورکولو یا

أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ

ایا دوی نه گرځی په ملک کښ چه اوګوری چه څه رنګ

كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَكَانُوا

شو آخری انجام دَ هغه کسانو چه دَ دوی نه مخکښ وو او وو هغوی

أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعْجِزَهُ

ډیر سخت دَ دوی نه په قوت کښ . او نه دے الله تعالیٰ چه بے وسه کړی هغه لره

مِن شَيْءٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ

هیڅ څیز په اسمانونو کښ او نه په زمکه کښ،

إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا ﴿۴۴﴾

یقینًا الله تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے۔

قتل کولو دَ پاره چلوته جوړول یا هغوی ته خیرے کول دی۔ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ یعنی دَ هغې چلوتو او دهوکو اثر به واپس په دوی باندے پریوځی او بد دُعائی به واپس په دوی باندے راځی تفسیر قرطبی کښ ویلے دی چه کعب الاحبار یوځل ابن عباس رضی الله عنهما ته اویل چه په تورات کښ لیکلی دی چه من حفر لاخیه حفرة وقع فیها (څوک چه رور ته کنده اوکنی نو دے به پکښ پریوځی) نو ابن عباس رضی الله عنهما ورته اویل چه دا سے په قرآن کریم کښ هم شته او دا جمله یئے اولوستله۔ فَهَلْ يَنظُرُونَ الاٰ دا تخویف دنیوی دے۔ تَبْدِيلًا او تَحْوِيلًا کښ فرق دے په څو وجوهو سره اوله وجه دا ده چه تبدیل دا دے چه عذاب لرے کړی او نعمت او عافیت راولی او تحویل دا دے چه عذاب کښ تخفیف راولی، دویم فرق دا دے چه څوک طاقت نه لری چه عذاب دَ الله تعالیٰ بدل کړی او دا رنګ طاقت نه لری چه عذاب دَ ځان نه وا ړوی بل چاته او دریم فرق تبدیل په اجل دَ عذاب کښ او تحویل په صفت دَ عذاب کښ۔

۴۴ :- دا هم تخویف دنیوی دے هرکله چه سنة الاولین یئے ذکر کړو نو په دے ایت کښ دَ هغې نه دَ عبرت حاصلولو طریقه ذکر کوی چه هغه سیل کول او نظر کول دی او تنبیه ورکوی چه دَ الله تعالیٰ سره راتلے په بل مخ)

وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللّٰهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا

او که چرے نیولے الله تعالیٰ خلقو لره په وجه دَ هغه کارونو چه دوی کړے دی

مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَآبَّةٍ وَّلٰكِنْ

نه به ئے وُو پریخودلے په شا دَ زمکه باندے هیڅ ژوندہ سر لیکن

يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ

روستو کوی دوی لره تر نیټے مقرر پورے نو کله چه راشی نیټه دَ دوی

فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ﴿۴۵﴾ ع ۵ ۱۷

پس یقیناً الله تعالیٰ دے بندګانو خپلو لره لیدونکے.

په هیڅ طریقه مقابله نشی کیدلے - لیعجزه دَ دے نه مخکښ خبر دَ کَانَ پټ دَے یعنی
ماکان الله ضعیفا لیعجزه او مِنْ شَیْءٍ کښ مِن دَپارهٔ دَ استغراق او تاکید دَ نفی دے.
ف۴: - دا هم داخل دَے په تخویف دنیوی کښ او هر کله چه منکریتو عذاب په تا دُے سره
طلب کوؤ نو په دے ایت کښ دَ هغے جواب دے اَلنَّاس کَدَ نه مراد ګناه ګار انسانان دی که مؤمنان وی
او که مشرکان وی. بِمَا كَسَبُوْا یعنی په تول ګناهونو دَ دوی چه یو هم ورته نه معاف کوی - او بعض
دَ وج نه مراد دی چه په بعض ګناهونو سره په دنیا کښ بعضے عذابونه راځی لکه په سورة
روم ۴۱ کښ تیر شویدی - مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا، انسانان چه دَ زمکے په کوم طرف باندے
سکونت کوی نو دَ دے مثال دَ مرکوبے (سورلے) دے چه دَ هغے په شا باندے سورلی کیږی
نو دے نه ئے دَ دے وجے نه ظَهْرَ اویل. او دارنګ دَ دے وجه الارض هم ویلے کیږی دَ دے وجے
نه چه څ په بدن کښ ښکاره وی نو دا دَ استوګنے حصه دَ زمکے دَا او بونه ښکاره ده - مِنْ دَآبَّةٍ کښ
سوال او کړے شی چه ګناهونه انسانانو کړے دی نو اثر دَ هغے په دوا بو (ژوندہ سرو) باندے ولے
پریوځی؟ اول جواب دا دے چه دَ ګناهونو دَ عذاب په وجه سره باران نو نه کم شی یا بند شی او
بوټی هم کم شی او اوچ شی نو دغه ژوندہ سر دَ لوږے او تندے دَ وجے نه مړ شی او دلیل دا دے
چه یو سړی ویلے وو چه یو ظالم په خپل ظلم سره ځان ته نقصان ورکوی نو دغه او تبلیغ ته ضرورت نیشته
نو ابوهریره رضی الله عنه ورته اویل دروغ دِ اویل قسم په الله تعالیٰ چه زانرے (مرغی) په خپلو
جالو کښ دَ ظالمانو دَ ظلم په وجه سره خوارے او نیږے شی تو مړے شی - دویم جواب دا دے چه دوابے انسانانو
دَ پاره لوئے نعمت دَے نو دَ انسانانو دَ ظلم په وجه سره دا نعمت به دَ دوی نه واخستے شی - فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ یا
دَ دے جزاء محذوف ده یعنی چه نیټه راشی نو تول به مړه شی بیا دَ هر چا په مناسب جزاء ورکولو بانده الله تعالیٰ عالم

تفسیر دَ سورة فاطر په فضل دَ الله تعالیٰ سره ختم شو.

سُوْرَةُ یٰسٓ ۳۶ مَکِّیَّةٌ ۴۱ ۔ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۔ اٰیَاتُهَا ۸۳ رُکُوْعَاتُهَا ۵

یٰسٓ ۝۱ وَالْقُرْاٰنِ الْحَکِیْمِ ۝۲ اِنَّکَ

الله تعالیٰ دَ مراد باندے پښه پوهه دے۔ قسم دے په قران حکمتونو والا باندے چه یقینًا ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سورة یٰسٓ :۔ دَ دے سورت نور نومونه دادی۔ سورة قلب القرآن ، سورة المعمّه ، سورة المدافعة ، سورة القاضیة ، سورة العزیزة او سورة العظیمة۔

ربط دَ دے سورة دَ مخکښ سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورة کښ دَ رد دَ شفاعة شرکیه دپاره عقلی دلیلونه وو نو په دے سورت کښ دلیل نقلی ذکر کوی، دویمه وجه دا ده چه دَ هغه سورت په آخر کښ تخویف دنیوی ذکر وو نو په دے سورت کښ دَ تخویف دنیوی پو نمونه ذکر کوی۔ دریمه وجه دا ده چه په مخکښ سورت کښ مسئله ثابت شوه په دلیلونو سره نو په دے سورت کښ تشجیع ورکوی په دعوت باندے او دَ هغے طریقه هم ذکر کوی۔

دعویٰ دَ سورت۔ اثبات دَ صداقتِ رسول دے عمومًا او په رد دَ شفاعة شرکیه کښ خصوصًا دا دعویٰ په آیت ۳ کښ ده او مقصد دَ دعوے عمومًا په ۶ او دَ دعوے خصوصًا په ۲۳ ۴۳ ۷۵ کښ دے۔

خلاصه دَ سورت۔ په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر ۳۱ پورے دے په دے کښ شهادت دَ قرآن ذکر کوی په دعویٰ باندے او مقصد دَ دعوے ذکر کړے دے او زجر او تخویف دے په څلورو آیاتونو کښ بیا بشارت او دلیل عقلی مختصر دپاره دَ اثبات دَ توحید او قیامت ذکر کوی۔ بیا دلیل نقلی دے۔

تفسیر

۱۔ یٰسٓ دا دَ مقطعاتو نه دے لویه فائده په دے کښ تنبیه ده په اعجاز دَ قرآن کریم باندے او دَ بعضونه نقل دی چه دا په معنیٰ دَ یا سیّد البشر دے لیکن دا چه مشهوره ده چه دا نوم دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دے نو دا په صحیح روایت سره ثابت نه ده کوم روایت چه قرطبی او ماوردی راوړے دے بے سنده او ضعیف دے۔

۲۔ وَالْقُرْاٰنِ الْحَکِیْمِ واو دپاره دَ قسم دے او قرآن کلام الله دے

پاتے په بل مخ

لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳﴾ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴﴾

ضرور دَ رسولانو نه ئې په لارے نيغے باندے

تَنْزِيْلَ الْعَزِيْزِ الرَّحِيْمِ ﴿۵﴾ لِتُنْذِرَ

(نازل کړے دے په تا باندے) نازلول دَ زور اور ذات چه رحم کوونکے دے. دَ دے دَپاره چه ويره ورکړے

مخلوق نه دے بلکه صفت دَ الله تعالىٰ دے نو دا قسم په مخلوق باندے نه دے.
که څوک سوال او کړی چه دَ قسم مقصد خو دا وی چه که چرے زه دروغژن
یم نو مقسم به ماله نکره او سزا را کړی او دا دَ الله تعالىٰ دَ شان سره نه ځائيږی
جواب دا دے چه صفتونه او کارونه دَ الله تعالىٰ په مخلوق باندے نه قياس کيږی
قسم دَ الله تعالىٰ دَ تاکيد او شهادت دَپاره وی په دعویٰ باندے په طريقه دَ
دليل سره. او دا رنګ خطيب شربينی په تفسير سراج المنير کښ ويلی دی چه دا مجرد
حلف نه دے بلکه دليل دے په شکل دَ قسم کښ ځکه چه قرآن معجزه او دليل دے
دَ رسالت دَ رسول صلى الله عليه وسلم. که څوک سوال او کړی چه دليل ئې په
صورت دَ قسم کښ دَ څه حکمت دَپاره ذکر کړو خالص دليل ئې ولے نه راوړو؟ جواب دا دے
چه په دے کښ ډير حکمتونه دی اول. حکمت دا دے چه قسم کول دَ لوئے ذات دَ طرف
دليل وی چه مقسم عليه امر عظيم دے نو مخاطب ورته په شوق سره غوږ نيسی،
دويم حکمت دا دے چه دَ عربو هغه عقيده وه چه په دروغه باندے قسم کول سبب دَ
تباهئ دے او نبی صلى الله عليه وسلم په ډيرو حالاتو کښ قسمونه کړے دی
او هيڅ مصيبت ورته نه دے رسيدلے نو معلومه شوه چه دے صادق دے.
دريم حکمت دا دے چه دليلونه په تير شوے سورت کښ ډير بيان شول او دَ هغے
باوجود دوی سخت انکار او کړو چه هغه دَ سورة فاطر په آيت ۴۲ کښ ذکر دے
نو دَ دے وجے نه رجوع او کړے شوه قسم ته يعنی دليلونه دوی ته قائل نه ورکوی
نو قسم کول ضروری شو.

۳:- دا جواب قسم او دعویٰ دَ سورت ده دَ دے وجے نه په اِنَّ او په لام دَ تاکيد
باندے مشتمله ده.

۴:- دا ذکر دَ صفت دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم او دَ جواب قسم دے يعنی روستو
دَ وصف دَ رسالت نه بيان دَ مسلک دَ رسول دے او دا دليل دے چه طريقه او سنّت
دَ نبی صلى الله عليه وسلم صراط مستقيم ده.

۵:- دا دريم جواب قسم دے او فعل محذوف دے يعنی نُزِّلَ تنزيلًا يعنی دَ قرآن

قَوْمًا مَّآ اُنْذِرَ اٰبَآؤُهُمْ فَهُمْ غٰفِلُوْنَ ۝٦

هغه قوم ته چه ویره نه وه ورکړے شوے مشرانو ددوی ته نو دوی بے پرواه دی .

لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ عَلٰٓى اَكْثَرِهِمْ فَهُمْ

یقینًا پوره شوے دے حجت په ډیرو ددوی باندے نو دوی

لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝٧ اِنَّا جَعَلْنَا فِيْٓ اَعْنَاقِهِمْ

ایمان نه راوړی . یقینًا اچوو موږ ددوی په ستونو کښ

اَغْلٰلًا فَهِيَ اِلَى الْاَذْقَانِ فَهُمْ مُّقْمَحُوْنَ ۝٨

طوقونه نو هغه په تر زنو پورے وی نو سرونه ددوی په پورته کړے شوے وی.

حکمتونه شهادت کوی چه دا دَ الله تعالیٰ (چه عزیز او رحیم دے) کتاب دے. تر دے
پورے مرسَل او طریقه دَ مرسَل او مرسِل ذکر شول.
سـ٦ :- په دے کښ ذکر دَ مقصد دَ رسالت او دَ مرسَل الیهم دے او په دے کښ اشاره
ده چه دا آخری نبی په داسے وخت کښ رالیږلے شوے دے چه اهلِ دنیا دَ دهٔ
رسالت ته (دَ وجے دَ غفلت نه) محتاج وو او دا هم دَ دے پیغمبر عظمت شان دے
او داسے په سورة سبا سـ٤٤ او سورة سجده سـ٣ کښ تیر شوی دی.
سـ٧ :- هر کله چه مقصد دَ رسالت ذکر شو چه انذار دے نو سوال راغے چه دا ټول
خلق ولے ایمان نه راوړی نو په دے آیت کښ دَ هغے جواب کوی په ذکر دَ مانع
سره- لَقَدْ حَقَّ الْقَوْلُ مراد دَ دے نه فیصله دَ عذاب ده چه هغه په سورة هود
سـ١١٩ او سورة صٓ سـ٨٥ کښ ده. او فیصله دَ تقدیر ده یا مراد تری نه حجت پوره کول
دی په رالیږلو دَ نذیر سره.
سـ٨ :- په دے آیت کښ درے توجیهات دی اول توجیه عامو مفسرینو واقعه دَ
ابوجهل او دَ نورو کافرانو لیکلے ده چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ وهلو
او دَ مانځه او دعوت نه منع کولو کوشش یې کولو نو لاسونه یې دَ ستونو سره
او تختل - نو ربط دا دے چه دا یو قسم حجت چه په دوی باندے قائم شو په طریقه دَ
معجزے سره نو دا تفسیر دَ حق القول دے. دویمه توجیه دا ده چه دا په
قیامت کښ دَ دے کافرانو حال دَ عذاب وی نو دا تخویف اخروی شو، دریمه توجیه
دا ده چه دا تمثیل دے دَ مانع دَ دوی دَ ایمان راوړلو نه او دویم جواب او وجه ده
دَ دوی دَ ایمان نه راوړلو یعنی اغلال په ستونو کښ کنایه ده (پاتے په بل مخ)

وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَّمِنْ

او جوړ دي په مونږ د دوی مخ ته دیوال او د

خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا

دوی نه روستو ته دیوال نو راګیر یې کړل دوی لره نو دوی به

يُبْصِرُونَ ⑨ وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ

نه ویني. او برابر دے په دوی باندے ویره ورکول ستا دوی لره

دَ تقليد دَ مشرانو ګمراهانو نه بغير دَ دليل نه. لکه چه پلن طوق دَ يو انسان سټ ته پروت وی نو سر يې اوچت وی اولاړ ے ته کتلے نشی نو ټکرے وهی اوکله په کنډه کښ غورزيږی نو دا رنګ دوی دَ مشرانو دَ تقليد شرکی په وجه سره دَ هدايت نه محرومه دی. فَهِيَ إِلَى الْأَذْقَانِ ضمير راجع دے اغلال ته يعنی اغلال دو مره پلن دی چه دَ زنو پورے تول سټ يې بند کړے دے يا ضمير راجع دے لاسونو ته چه دلالت معلوميږی يعنی لاسونه يې دَ سټو سره په اغلالو کښ بند دی.

س۹:- په دے ايت کښ هم هغه درے توجيهات دی اوله توجيه داده چه کافرانو دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ وېښتلو اراده اوکړه نو الله تعالیٰ په ديوالونو کښ راګير کړل نو دا معجزاته جت پرے قائم شو ليکن بيا هم ايمان نه راوړی. دويه توجيه داده چه دا په جهنم کښ دَ دوی حال وی نو تخويف اخروی دے. دريمه توجيه داده چه دا تمثيل دے او ذکر دَ دريم مانع دے دَ هدايت نه يعنی لکه چه دَ يو انسان مخ ادروستو ته ديوال وی نو مخکښ او روستو نشی تللے او سترګے يې هم بندے وی. دا رنګ دَ دوی دَ قيامت باره کښ ديوال دَ شبهاتو دے او دَ دنيا په باره کښ ديوال دَ شهواتو دے نو دَ حق نه راګنده دی او دَ هدايت نه محروم دی.

که څوک سوال اوکړی چه مخ او شاته يې ديوال ذکر کړو نو ښی طرف او ګس طرف ته يې ولے ذکر نه کړو؟

نو جواب دا دے چه کله ښی طرف يا ګس طرف ته مخ کړی نو بيا هم يو طرف مخے ته شو او بل طرف شا ته شو نو بين ايديهم او خلفهم دے ته هم شامل دے.

أَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ⑩ إِنَّمَا

او وېره نه ورکول دوی لره ایمان نه راوړی ۔ یقینًا

تُنْذِرُ مَنِ اتَّبَعَ الذِّكْرَ وَخَشِيَ الرَّحْمٰنَ

وېره ورکوے ته (رفائده ناکه) هغه چا ته چه تابعداری کوی دَ نصیحت او وېره کوی دَ رحمان نه

بِالْغَيْبِ ۚ فَبَشِّرْهُ بِمَغْفِرَةٍ وَّأَجْرٍ كَرِيمٍ ⑪

په حال دَ نه لیدلو کښ نو زیرے ورکړه دهٔ لره په بخنه او ثواب عزت مند ۔

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا

یقینًا موږ به ژوندی کوو مړی او لیکو موږ هغه عملونه چه دوی مخکښ لیږلے دی

وَآثَارَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنٰهُ

او روستو کارونه دَ دوی او هر څیز راګیر کړے دے موږ

فِي إِمَامٍ مُّبِينٍ ⑫ وَاضْرِبْ لَهُمْ مَّثَلًا

په کتاب ښکاره کښ ۔ او بیان کړه دوی ته عبرت ناکه واقعه

(ع ۱ ‎۱۳ ‎۱۸)

سنا :۔ دا خلورم مانع او جواب دے چه دوی ته دَ عناد او دَ ضد دَ وجے نه انذار ورکول او عدم انذار برابر دی۔

سلا :۔ هر کله چه معلومه شوه چه ضد یان عناد یانو ته انذار فائده نه ورکوی نو سوال راغے چه دَ انذار ورکولو څه فائده ده؟ حاصل دَ جواب دا دے چه انذار والو ته فائده ورکوی او دَ هغوی دوه صفتونه ئے ذکر کړیدی یو اتباع دَ قرآن او دویم خشیت دَ رحمٰن. خشیت ئے روستو ذکر کړو نو اشاره ده چه هغه خشیت مراد دے کوم چه دَ قرآن نه حاصلیږی او دوه جزاګانے ذکر کړیدی ۔ کریم دَ دنیا په اجرت کښ ذلت محسوس کیږی او دَ آخرت اجر کښ کرامت او عزت دے۔

سلا :۔ په دے کښ وخت دَ اجر ذکر کوی چه هغه حیات بعد الموت دے او دا دلیل عقلی دے دَ پاره دَ توحید ۔ اِنَّا نَحْنُ نُحْيِ الْمَوْتٰى معنیٰ ظاهری مراد ده دَ پاره دَ اثبات دَ قیامت او دَ ضحاک او حسن نه نقل دے چه په دے سره ایمان بعد الکفر مراد دے۔ وَنَكْتُبُ دا کتابت دَ احیا بعد الموت نه مخکښ دے لیکن هر کله چه مقصد دَ احیاء بعد الموت حساب دَ عملونو دے دَ دے رپاتے په بل مخ)

أَصْحٰبَ الْقَرْيَةِۘ إِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿١٣﴾

دَ يو ښار والو كله چه راغله هغې ته رسولان

إِذْ أَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمُ اثْنَيْنِ فَكَذَّبُوْهُمَا

كله چه اوليږل مونږ هغوی ته دوه كسان نو هغوی ورته دروغژن ويل

وجے نه مقصد یئ په احياء پسے ذکر کړو. دَدے کتابت نه مراد کتابت دَ کراماً کاتبين دے چه هغوی اعمال په خپلو صحيفو کښ ليکی. يا دَ کتابت نه مراد تقديرکښ ليکل دی او مضارع په معنیٰ دَ ماضی ده. مَا قَدَّمُوْا په اول معنیٰ سره مراد دَ دے نه هغه عملونه دی چه انسان کړے وی نو آخرت ته ئے رواندے ليږلے دی او په دويمه معنیٰ سره ماقدموا واخروا مراد دے يعنی ټول اعمال مراد دی.
وَآثَارَهُمْ مراد دے نه قدمونه اغستل دی مسجد ته دَ عبادت دَپاره يا هرهغه قدمونه چه کارِ خير دَپاره ئے انسان اخلی. يا مراد دَ دے نه هغه نيک يا بدعملونه دی چه انسان ئے دَ روستو خلقو دَپاره پريږی دی او روستو خلق په هغے باندے عمل کوی تفسير قرطبی دَ هغې دا مثالونه ويلی دی، علم چه دَ هغې تدريس ئے کړے وی يا ئے کتاب تصنيف کړے وی يائے وقف کړے وی يا مسجد، مسافرخانه، پُل وغيره ئے جوړ کړے وی دا نيک عملونه دی او دَ بدو عملونو مثالونه دادی ټيکسونه چه بعضے ظالمانو بادشاهانو په مسلمانانو مقرر کړے وی او لارے چه په هغې کښ مسلمانانو ته نقصان ورکړے وی يا هغه غزل خوانے او دَ لوبو کارونه چه په هغې سره دَ الله تعالیٰ دَ لارے ته خلق منع کيږی. او دا رنګ هره طريقه خائسته يعنی سنت جاری کول يا ناکاره طريقه لکه بدعات ايجاد کول او جاری کول. وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ فِيْٓ إِمَامٍ مُّبِيْنٍ په دويمه معنیٰ دَ نکتب سره دا تعميم بعدالتخصيص دے په باره دَ تقديرکښ او په اوله معنیٰ دَ نکتب سره دا ذکر دَ ليکلو دَ تقدير دَ هرشئ دے او بيا روستو ليکل دَ ملائکو دی دَ دے وجے ئے أَحْصَيْنَاهُ فعل ماضی راوړه او نکتب فعل مضارع ځکه چه کتابت دَ ملائکو دَ تقدير نه روستو دے. إِمَامٍ مرهغه څيز ته ويلے کيږی چه په هغې پسے اقتدا کيږی دَ دے وجے نه ئے تورات ته هم امام ويلے دے (سورة هود ۱۷) کښ او هر کله چه روستو ټول کارونه دَ تقدير (دَ لوح محفوظ) تابع دی نو دَ دے وجے نه هغې ته
۱۳ ،، دا متعلق دے په لتنذر پورے. دا مثال دَ انذار (تخويف دنيوی) دے او دليل نقلی دے په توحيد باندے او دا رنګ په دے کښ په انذار کولو باندے تشجيع ده سره دَ ذکر دَ طريقے دَ انذار (دعوت) نه. الْمُرْسَلُوْنَ دا اجمال دے دَ دے وجے نه جمع ئے ذکر کړه.

فَعَزَّزْنَا بِثَالِثٍ فَقَالُوٓا إِنَّآ إِلَيْكُم

نو کلک کړه موږ په دریم سړه نو دوی اُویل یقینًا موږ تاسو ته

مُّرْسَلُونَ ⑭ قَالُوا مَآ أَنتُمْ إِلَّا بَشَرٌ

رالیږلے شوے یو۔ دوی اویل نه یئ تاسو مګر بندګان یئ

مِّثْلُنَا ۙ وَمَآ أَنزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِن شَيْءٍ ۙ

زموږ پشان او نه دے نازل کړے رحمان هیڅ څیز

إِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَكْذِبُونَ ⑮ قَالُوا رَبُّنَا

نه یئ تاسو مګر دروغ وایئ دوی اُویل رب زموږ

يَعْلَمُ إِنَّآ إِلَيْكُمْ لَمُرْسَلُونَ ⑯ وَمَا

پوهه دے چه یقینًا موږ تاسو ته خامخا رالیږلے شوے یو - او نیشته

۱۴ :- دا دَ اِذْ جَآءَهَا الْمُرْسَلُوْنَ نه بدل دے او تفصیل بعد الاجمال دے تیرو شوؤ زمانو کښ یو یو کلی ته به اکثر ډیر رسولان په یو ځائے رالیږلے کیدل . او په دے کښ تسلّی ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته چه ستا نه مخکښ هم دَ رسولانو تکذیب کړے شوے دے .

۱۵ :- دا تفصیل دَ تکذیب دے په درے طریقو سره . دَ دے نه معلومه شوه چه دَ بشریت دَ رسول نه انکار کول دَ مشرکانو زړه جاهلانه عقیده ده .
وَمَآ أَنزَلَ الرَّحْمَٰنُ مِن شَيْءٍ مراد دا چه په بشر باندے رحمان ذات وحی چرے نه ده رالیږلے یا دَ شَيْءٍ نه مراد وحی دَ توحید ده - تَكْذِبُوْنَ یعنی په مسئله دَ توحید او په دعوی دَ رسالت کښ تاسو دروغژن یئ -

۱۶ :- رَبُّنَا يَعْلَمُ دا جمله دَ قسم په ځائے باندے قائم ده دَ دے وجے نه دَ يَعْلَمُ مفعول یئ نه دے ذکر کړے او جواب یئ مؤکد کړے دے په لام سره . او دَ دے لام دَ وجے نه دَ یعلم نه روستو اِنَّ په زیر سره راوړے دے .

عَلَيْنَآ إِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۷﴾ قَالُوْٓا إِنَّا

په موږ باندې مګر رسول ښکاره دی - دوی اُویل یقیناً

تَطَيَّرْنَا بِكُمْ ۚ لَئِنْ لَّمْ تَنْتَهُوْا

موږ سپیره حاله شو ستاسو د وجې نه که چرې منع نه شوئ

لَنَرْجُمَنَّكُمْ وَلَيَمَسَّنَّكُمْ مِّنَّا عَذَابٌ

نو سنګسار به کړو تاسو او خامخا اد به رسیږي تاسو ته زموږ د طرف نه عذاب

أَلِيْمٌ ﴿۱۸﴾ قَالُوْا طٰٓئِرُكُمْ مَّعَكُمْ ۚ

دردناک - دوی اُویل سپیره والے ستاسو ستاسو د وجې نه دے

أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ ۚ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُوْنَ ﴿۱۹﴾

ایا چه تاسو ته نصیحت درکیږي نو انکار کوئ بلکه تاسو قوم یئ د حد نه تیریدونکي -

ف۱۷ :- یعني هرکله چه موږ رسولان یو نو د رسول ذمه واري صرف تبلیغ دے که تاسو منل کوئ یا نه کوئ.

ف۱۸ :- دا د هغوی د تکذیب بله طریقه ده یعني دوی ویل چه ستاسو تبلیغ باطل دے ځکه چه د دے د وجې نه په موږ باندې بدحالي راغله بیمارے قحط مالي ګراني د نرخونو وغیره. او دا سے نسبت یې موسیٰ علیه السلام ته هم کړے وو لکه سورة اعراف ف۱۳۱ کښې - لَنَرْجُمَنَّكُمْ نه په کاڼړو ویشتل یا کتغل او زورنه کول مراد دي - عَذَابٌ أَلِيْمٌ نه قتل کول، اندامونه پریکول یا سخت وهل مراد دي.

ف۱۹ :- طٰٓئِرُكُمْ د انسان مقرر برخه ته ویلے کیږي چه د الله تعالیٰ د طرف نه راځي مراد ترینه بدحالي ده مَّعَكُمْ تاسو پورے لازم ده ستاسو د ناکاره عملونو د وجې نه او هرکله چه دا بدحالي په حکم د الله تعالیٰ سره راځي او د هغه د طرف نه مقرروي د دے وجې نه سورة اعراف ف۱۳۱ کښې عند الله فرمائیلے دے او هرکله چه سورة اعراف کښې فرعونیانو باندې رد دے او هغوی د دیرطغیان د وجې د عذاب نو نسبت الله تعالیٰ ته نه منلو نو د هغوی په جواب کښې عند الله اوویلے شو او په د ایاتونو کښې دے قوم د خپلو عملونو سزا نه منله په دے وجې سره دلته معکم اوویلے شو - أَئِنْ ذُكِّرْتُمْ د دے جزاء پټه ده یعني تاسو په تذکیر سره تطیر کوئ یعني په نصیحت کښې سپیره والے ګڼړئ.

وَجَآءَ مِنْ اَقْصَا الْمَدِيْنَةِ رَجُلٌ يَّسْعٰى

او راغے د لرے طرف د ښار نه يو نارينه منډے وهلے

قَالَ يٰقَوْمِ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۲۰﴾ اتَّبِعُوْا

اوئيل ئے اے قومه زما تابعدارى کوئے د پيغمبرانو تابعدارى د هغه چا

مَنْ لَّا يَسْئَلُكُمْ اَجْرًا وَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۱﴾

چه نه غواړى ستاسو نه هيڅ بدله او هم دوى هدايت والا دى۔

بَلْ اَنْتُمْ په دے کښ تصريح ده چه سبب د بدحالے ستاسو اسراف يعنى شرک او کفر او د دين نه خلق منع کول دى۔

فائده:۔ د دے اياتونو نه معلومه شوه چه تَطَيُّر يعنى بدحالى بيمارے وغيره په هر انسان د هغهٔ د عمل د وجے نه راځى د هغے نسبت مکان يا زمانے ته يا بل سړى ته کول جائز نه دى د دے وجے نه رسول الله صلى الله عليه وسلّم فرمائيلے دى لاطيرة فى الاسلام يعنى اسلامى اصول دادى چه د خپلے بدحالے سبب په د بل چا عمل يا صفت نه ګرځوئے بلکه خپل عمل به د هغے سبب ګنړئے۔

۲۰:۔ دا رنګ په سورة قصص ۲۰ کښ تير شويدى هغه سورت کښ رجل هلته ذکر کړے دے او دلته رجل روستو ذکر دے وجه دا معلوميږى چه په هغه سورت کښ حفاظت د نبى دے د قتل نه او په دے سورت کښ حفاظت د انبياؤ دے د تکذيب نه او اول کار ډير اهم دے په نسبت د دوېم سره او حفاظت د رجوليت (سړيتوب) په وصف سره دے يعنى هغه انسان نر دے چه د انبياؤ حفاظت او ملګرتيا کوى۔ اتَّبِعُوا الْمُرْسَلِيْنَ په امتى باندے لازم دى چه د نبى تابعدارئے ته خلق رااوغواړى۔

۲۱:۔ دا ذکر د دوؤ علتونو دے د پاره د لزوم د اتباع د رسولانو۔ اول د عوض طمع نه کول د انساتانو نه او دا دليل د اخلاص دے او دا سے انسان حق هم نه پټوى دوېم اهتداء يعنى په دليل د وحى پسے تلل او د وحى موافق عمل کول او دا دليل د حقانيت دے۔

وَمَالِيَ لَآ أَعْبُدُ الَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيْهِ

او څه دلیل دے زما چه بندګي نه خاص کوم د هغه ذات چه زه یٔ د اول سر نه پیدا کړے یم او خاص هغه ته

تُرْجَعُونَ ﴿٢٢﴾ ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً

به اوګرځولے شئ . ایا اونیسم زهٔ سوا د الله تعالیٰ نه نور معبودان

إِن يُرِدْنِ الرَّحْمَٰنُ بِضُرٍّ لَّا تُغْنِ عَنِّي

که چرے اوغواړی ماله رحمان ذات څه ضرر نو نه شی لرے کولے زما نه

شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا وَلَا يُنقِذُونِ ﴿٢٣﴾ إِنِّيٓ

سفارش د دوی هیڅ ضرر او نه دوی ماله خلاصولے شی . یقیناً زهٔ به

۲۲ :. په دے کښ دعوت دے توحید ته په احسن طریقے سره دَ دے وجے نه چه دَ خبرے سر دَ ځان طرف ته شوروکوی دَ پاره دَ دے چه مخاطب بد اونګنړی او دَ خبرے اخر سر مخاطب ته اړوی. او دا جواب دَ سوال دے یعنی قوم ورته په زور ته اووئیل چه ته هم دَ دوی سره ملګرے یٔ نو هغه جواب اوکړو چه هان دَ دوی ملګرتیا پریخودلو دَ پاره زما څه عذر او دلیل نیشته ـ او فَطَرَنِي کښ دلیل دَ توحید فی العبادة دے وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ کښ عقیده دَ بعث بعد الموت ده . په مَالِيَ کښ عدم دَ مانع ذکر دے او فَطَرَنِي کښ مقتضی او سبب ذکر دے او عدم دَ مانع ممکښ پکار دے دَ وجود دَ سبب ته او دَ دے دواړو په جمع کیدلو سره حکم واجب کیږی۔

۲۳ :. مخکښ ایت کښ اثبات دَ توحید وؤ او په دے ایت کښ رد دَ شرک دے او جواب دے دَ دویم سوال دَ مشرکانو چه دَ الله تعالیٰ دَ معبودیت سره دَ نورو شرکت هم جائز دے حاصل جواب دا دے دَ الله تعالیٰ نه سوا په بل چا کښ وصف دَ معبودیت نشی کیدے او هغه دوه څیزونه دی اول دا چه دَ الله تعالیٰ اراده لره په سفارش کولو سره اوګرځوی او دے قسم ته شفاعتِ قهریه ویلے کیږی چه عقیده او ساتی چه څوک دَ الله تعالیٰ په نیز دا سے عزیز او عزتمند وی چه دَ الله تعالیٰ اراده لره بدل کړی یا دا سے دوست او محبوب مطلق وی چه الله تعالیٰ دَ هغهٔ دَ سفارش منلو ته مجبوره شی او خپله اراده لره پریګدی دا یو هم نشی کیدے دویم څیز دا دے چه په خپل طاقت او زور سره دَ الله تعالیٰ اراده بدله کړی او یو انسان لره دَ الله تعالیٰ دَ اراده په خلاف دَ څه مصیبت نه بچاؤ ورکړی۔

إِذًا لَّفِي ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿۲۴﴾ إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمْ

دا سے وخت کښ خامخا په گمراهئ ښکاره کښ یم ۔ یقیناً ما ایمان راوړے دے ستاسو په رب باندے

فَٱسْمَعُونِ ﴿۲۵﴾ قِيلَ ٱدْخُلِ ٱلْجَنَّةَ

نو واورئ زما خبرے ۔ اُوویلے شو (پس د مرګ د هغه نه روح ته) داخل شه جنت ته

قَالَ يَـٰلَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ ﴿۲۶﴾

اُوویل هغه هائے افسوس دے چه قوم زما پوهه لرے ۔

س۲۴ :۔ دا دریم سوال جواب دے هغوی اویل چه په دے عقیدائے لرلو سره هیڅ نقصان نه راځئ جواب ئے ورکړو چه دا ښکاره ګمراهی ده ۔

س۲۵ :۔ دا څلورم سوال جواب دے چه ته زمونږ مخالفت کښ (رد د شرک کښ) ولے دومره کلک ئے جواب ئے اوکړو چه دا د مؤمن د ایمان تقاضا ده چه په شرک باندے صریح رد کوی. فَاسْمَعُونِ مراد د دے نه فکر کول او د غه نصیحت قبولول دی او بل دا تنبیه ده قوم ته چه بیا او نه وائی چه تا مونږ ته حق نه وؤ بیان کړے ۔

س۲۶ :۔ اکثر مفسرینو لیکلی دی چه مشرکان په دے سړی باندے راجمع شول تو پونه ئے وریاندے اوهل د هغهٔ کولمے ئے بهر را او یستلے ۔ په کانړو باندے او یشتلو ۔ کوهی ته ئے او غورځولو رد دے خلقو ته اصحاب الرس ویلے کیږی) او په مرګ کښ ئے ورله سورے اوکړو او د هغهٔ ښار په چوک کښ ئے اویزان کړو ۔ په اره ئے باندے دوه ټکړے کړو دا مختلف اقوال دی مطلب ئے یو دے چه شهید ئے کړو ۔ او هر کله چه صحیح حدیث سره ثابت دی چه روح د شهید په جنت کښ داخلیږی د دے وجے نه اویلے شو قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ بدن ئے په مزکه مړ پروت وؤ لیکن روح ته ئے خطاب اوشو او د قِيلَ نه مراد عموم دے یعنی د هر طرف نه د الله تعالیٰ او د ملائکو اوازونه وو چه جنت ته داخل شه ۔

قَالَ يَالَيْتَ ، په جنت کښ ئے د قوم د ایمان ارمان اوکړو دا د دهٔ نهایت اخلاص وؤ ۔

بِمَا غَفَرَ لِیْ رَبِّیْ وَجَعَلَنِیْ مِنَ الْمُكْرَمِیْنَ ﴿۲۷﴾

(په هغه خبره باندے چه بخښنه پرے اوکړه ماته ربا زما او زه ئے اوګرځولم د کرامت والا نه۔)

وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰی قَوْمِهٖ مِنْ بَعْدِهٖ مِنْ

(او نه دے رالیږلے موږ په قوم د هغه باندے روستو د مرګ د)

جُنْدٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِیْنَ ﴿۲۸﴾

(هغه نه هیڅ لښکر د آسمان نه او نه یو موږ نازلوونکی (په دا سے وختونو کښ))

ت۲۷:۔ بِمَا غَفَرَ لِیْ مراد د دے نه مسئله د توحید ده چه سبب د بخښش دے او سبب د کرامتونو دے یعنی افسوس دے چه قوم زما په دغه مسئله باندے علم او عقیده لرلے۔ اَلْمُكْرَمِیْنَ معلومه شوه چه لوے کرامت د توحید په وجه باندے شهادت دے او جنّت ته داخیدل دی او دا قول د دهٔ د اُحد د شهیدانو د قول په شان دے چه جنّت کښ د دوی ارواح داخل شول نو دوی اوویل "یَا لَیْتَ اِخْوَانَنَا یَعْلَمُوْنَ مَا صَنَعَ اللهُ تعالیٰ بِنَا لِئَلَّا یَزْهَدُوْا فِی الْجِهَادِ وَلَا یَنْكُلُوْا عَنِ الْحَرْبِ" نو الله تعالیٰ او فرمائیل چه زه به ستاسو خبر اورسوم نو د سورة آل عمران آیت د شهیداو نازل کړے شو۔ او دا سے قول د شهیداو د بیر معونه هم دے "بَلِّغُوْا عَنَّا قَوْمَنَا اَنَّا لَقِیْنَا رَبَّنَا فَرَضِیَ عَنَّا وَاَرْضَانَا"۔

ت۲۸:۔ په دے آیت کښ د هغه قوم هلاکت په سپک والی سره ذکر کوی یعنی الله تعالیٰ فرمائی چه د دوی په هلاکولو کښ زه لښکرو رالیږلو ته محتاج نه وم دوی د الله تعالیٰ د قدرت په مخکښ د یو وزر حیثیت هم نه لری۔ مِنْ بَعْدِهٖ په دے کښ اشاره ده سبب د غضب د الله تعالیٰ ته چه هغهٔ قتل کول د هغه مؤمن وو یعنی الله تعالیٰ د یو مؤحد په بدل کښ ټول قوم تباه کړو۔ وَمَا كُنَّا مُنْزِلِیْنَ یعنی دا زمونږ عادت نه دے چه د یو قوم د هلاکولو د پاره لښکرے رالیږو۔ که څوک سوال اوکړی چه په غزوه بدر، احزاب، حنین کښ ئے ملائک رالیږلے دی او هغوی ته ئے جنود ویلے دی جواب دا دے چه هلاکول دوه قسمه دی یو د ټول قوم په یو ځل تباه کول نو په دے آیت کښ مراد دا دے د دے د پاره الله تعالیٰ لښکر نه رالیږی دویم قسم هلاکول د لږو کسانو دی په حالت د جنګ کښ په هغه حالت کښ د نصرت په حیثیت د ملائکو لښکرے رالیږی او الله تعالیٰ حکمتونو والا دے۔

إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَإِذَا هُمْ

نه وه هلاکت د دوی مگر یوه چغه ده نو دغه وخت دوی

خٰمِدُوْنَ ﴿۲۹﴾ يٰحَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ ج

مړهٔ او غورځیدل۔ هائے افسوس دے په دا سے بندګانو باندے

م وقف غفران

۲۹: په دے ایت کښ عذاب د هغهٔ قوم ذکر دے مفسرینو لیکلی دی چه جبرئیل علیه السلام راغے او د دغه قوم د ښار د دروازے درشلی او نیولے او هیښتاکه چغه ئے اوهله په هغے سره هغوی مړهٔ شول په لفظ د وَاحِدَةً او خَامِدُوْنَ کښ د هغوی سپکوالی ته اشاره ده۔ خَامِدُوْنَ کښ تشبیه ده د اور مړکیدلو سره یعنی د دوی غُصّه او تکبّر وغیره داسے مړه کړے شوه لکه اور چه مړ شي او ایرے جوړے شي.

فائده :- اکثر مفسرینو د دے واقعے په باره کښ لیکلی دی چه دغه رسولان د عیسیٰ علیه السلام د طرف نه قاصدان وو۔ او انطاکیه ښار ته اولیږلے شول او بیا ورسره یو شپونکے (رجل مؤمن) ملګرے شو او هغهٔ شهید کړے شو نو بیا په هغه ښار باندے عذاب د چغے راغے او د دے په تائید کښ یو حدیث هم ذکر کوی چه هغه زمخشری کشاف کښ مرفوع نقل کړے دے " او طبرانی هم روایت کړے دے چه سبقیت کوونکی (چه یو رپ د سترګے ئے هم کفر نه دے کړے) انبیاؤ ته هغه درے کسان دی یوشع علیه السلام موسیٰ علیه السّلام ته سبقیت کړے وو او صاحب یٰسٓ عیسیٰ علیه السلام ته او علی رضی الله عنه محمد صلی الله علیه وسلّم ته "، لیکن مفسر ابن کثیر په دے باندے رد کړے دے په ډیرو وجوهو سره اوله وجه داده چه اذارسلنا الیهم ۔فعززنا بثالث۔ انا الیکم مرسلون او وړپسے جملے ښکاره دلالت کوی چه دوی د الله تعالیٰ د طرف نه رالیږلے شوی وو۔ دویمه دا چه هغوی په دوی باندے په بشریت سره اعتراض کړے وو ویلے وو ان انتم الا بشر مثلنا د بنده په قاصد باندے د بشریت اعتراض نشي کیدلے دریمه وجه دا چه تاریخ لیکلی دی چه انطاکیه اول ښار دے د هغه څلورو ښارونو نه چه په عیسیٰ علیه السلام ئے ایمان راوړے وو قدس، انطاکیه، اسکندریه، رومیه نو هرکله چه ایمان ئے راوړے وو نو بیا ولے هلاک کړے شول او څلورمه وجه داده چه د سورة قصص ایت ۴۳ په تفسیر کښ د اکثر سلفو نه نقل کړے شویدے چه روستو د انزال د تورات نه په یو امت باندے استیصالی عذاب نه دے راغلے او په دے واقعه کښ خو رباتے په یل مخ)

مَا يَأْتِيهِمْ مِّنْ رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ

په نه راځي دوی ته هیڅ رسول مګر دوی هغه پورے

يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٣٠﴾ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا

ټوقے کوی . آیا دوی نه ګوری چه څومره هلاک کړے دی موږ

قَبْلَهُمْ مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ

دَ دوی نه مخکښ دَ پیړو نه چه هغوی به دوی ته

لَا يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾ وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ

واپس (دنیا ته) نه راځي او نیشته هیڅ یو مګر ټول به

تصریح دہ چه هغه قریه (کلے) ټوله هلاکه شوه. او هرچه حدیث دَ طبرانی او دَ زمخشری دے نو هغه حدیث منکر دے دَ هغے په سند کښ حسین بن الحسین الاشقر دے او هغهٔ شیعی او پریخودے شوے راوی دے . نو معلومه شوه چه دا واقعه دَ موسٰی علیه السّلام نه روانده دَ یو قوم واقعه ده . او کیدے شی چه دَ هغهٔ قوم دَ کلی نوم هم انطاکیه وؤ .

ف۳۰ :- یا حسرة علی العباد دلته سوال دادے چه حسرة دَ الله تعالٰی دَ شان سره مناسب نه دے ځکه چه حسرت پښیمانه کیدل او ستړے ولے ښکاره کول دی په یو غیرمناسب کار کولو باندے نو دَ دے دیر جوابونه دی اول جواب دا چه حسرة په معنٰی دَ ویل او دَ هلاکت دے دا دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه یو روایت دے ، دویم جواب دا اختیار دے دَ حسرة دَ بندګانو نه په خپلو ځانونو باندے یعنی په دلے وخت کښ بندګان په خپل انکار او تکذیب باندے افسوسونه کوی .

دریم جواب ، عباد نه مراد انبیاء علیهم السلام دی کافرانو او یل های افسوس دے چه مونږ دَ دے بندګانو تکذیب وے کاؤ . څلورم دا قول دَ ملائکو دے پنځم دا قول دَ هغهٔ درے رسولانو دے لیکن دَ ملائکو او دَ رسولانو افسوس دَ هغه خلقو په انکار کولو باندے دے لکه چه وړیے جمله کښ " مَا يَأْتِيهِمْ مِّنْ رَّسُولٍ اه " ذکر دے ځکه چه دَ هغوی په عذاب باندے افسوس کول منع دی لکه فلا تأس علی القوم الکافرین سورة مائده ف۶۸ .

ف۳۱ :- دَ دے آیت نه دویم باب دے تر ف۳۲ پورے په دے کښ اول زجر دے بیا لس عقلی دلیلونه دی تر ف۴۴ پورے او په دیکښ درے قسمه زجرونه دی .

ع۱ زجر بالاعراض ع۲ زجر بالاستهزاء ع۳ زجر بانکار الحشر . بیا تخویف اخروی

ع ٢

لَّدَيْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴿٣٢﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الْاَرْضُ

زموږ مخې ته حاضر کړے شي . او لوے دليل د توحيد د دوی دپاره زمکه

الْمَيْتَةُ ۚ اَحْيَيْنٰهَا وَاَخْرَجْنَا مِنْهَا حَبًّا

وچه ده . چه تازه کړو موږ هغه او را اوباسو د هغې نه دانے

فَمِنْهُ يَاْكُلُوْنَ ﴿٣٣﴾ وَجَعَلْنَا فِيْهَا جَنّٰتٍ

نو بعض د هغې نه دوی خوری . او پيدا کړی دی موږ په دے کښې باغونه

مِّنْ نَّخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ وَّفَجَّرْنَا فِيْهَا

د کجورو او انگورو نه او بهولے دی موږ په هغې کښې

مِنَ الْعُيُوْنِ ﴿٣٤﴾ لِيَاْكُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖ

د چينو نه دپاره د دے چه اوخوری دوی ميوے د هغې نه

دے د ۵۱ نه تر ۴۸ پورے او په مينځ کښې بشارت دے او اخرکښې د يو شبهے جواب دے چه تعلق لری د ابتداء د سورت سره. په دے (۳۱) کښې زجر دے سره د تخويف دنيوی نه او دا ايت ښکاره دليل دے چه کوم خلق مړۀ شويدی هغوی دنيا ته واپس نه شی راتللے لکه چه سورة مؤمنون ۱۰۰ او سورة انبياء ۹۵ کښې تير شويدی.

۳۲: دا تخويف اخروی دے. اِنْ نافيه دے كُلٌّ لَّمَّا مبتدا ده په معنیٰ د الا سره دے جَمِيْعٌ خبر اول دے په معنیٰ د مجموعون دے.

۳۳: دا ايت او د دے نه روستو تر ۴۴ پورے دليلونه دی دپاره د رد د شفاعت شرکيه او دپاره د اثبات د حشر هم دی. او په دے دليلونو کښې نعمتونه ذکرکوی حَبًّا دانے د غنمو، اوربشو، جوارو، رونړو وغيره چه د غذا سره تعلق لری.

۳۴: په دے ايت کښې هغه نعمتونه ذکرکوی چه د ميوو سره تعلق لری او په مخکښې ايت کښې او په د باران ذکر کړے وے او په دے ايت کښې او په د چينو ذکر کړے دی او دا احسن ترتيب دے. نَخِيْلٍ وَّاَعْنَابٍ دا دوه قسمونه په عربو کښې ډيرو او نخيل يې د دے وجے نه مخکښې راوړو چه په هغې کښې فائدے ډيرے وی غذا هم ده فاکهه هم او دارنگ د هغې لرګی پا ترمے پوستکی سانګے او ميوے بسر اورطب او تمر ټول نعمتونه فائده والا دی او زينت

وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ ۭ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ۝۳۵

او نه دی جوړ کړی دے لره لاسونو د دوی نو آیا شکر نه کوی دوی.

سُبْحٰنَ الَّذِيْ خَلَقَ الْاَزْوَاجَ كُلَّهَا

پاکی ده د هغه ذات چه پیدا کړیدی قسمونه ټول

مِمَّا تُنْۢبِتُ الْاَرْضُ وَمِنْ اَنْفُسِهِمْ وَمِمَّا

د هغه نه چه راټوکوی یې زمکه. او د نفسونو د دوی نه او د هغه څیزونو نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ۝۳۶ وَاٰيَةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ ۖ ج

چه دوی نه پوهیږی په هغه باندے - او لوے دلیل د توحید دوی د پاره شپه ده

هم په کښې داخل دے چه پاتې یې نه عورزیګی - وَفَجَّرْنَا په ځ د زمکه باندے بحضے
اویه او د زمکے په باطنی رګونو کښې اویه چلول دے دواړو ته دا لفظ شامل دے
فِيْهَا ضمیر زمکے ته یا جنات ته راجع دے -
ف۳۵ :- مِنْ ثَمَرِهٖ ضمیر په تاویل د مذکور سره جنات یا دواړو ته راجع دے یا
الله تعالیٰ ته راجع دے وَمَا عَمِلَتْهُ اَيْدِيْهِمْ مَا موصوله دے او عطف دے په
ثمره باندے او مراد ترینه هغه رس جوس او مشروبات دی کوم چه د میوؤ نه
جوړیږی او هوږ ے او تیل وغیره چه د دا نو ته راؤباسی یا ما نافیه دے او رد
دے په مشرکینو باندے یعنی دا میوے خو انسانانو او الهو باطلو د دوی نه
دی جوړے کړی۔
ف۳۶ :- دا یل دلیل عقلی دے سره د دعوے د توحید نه په لفظ د سبحان
سره په تیر شوے آیاتونو کښې صرف پیدائش د زمکے د اشیاؤ یې ذکر کړے دے
او په دے کښې د هغې ازدواج او انواع ذکر کوی- اَلْاَزْوَاجَ جمع د زوج
ده قسم ته ویلے کیږی او مراد ترینه اختلاف د رنګونو شکلونو او خوندونو
دے او دے اختلاف ته ازدواج ویلے کیږی یا مراد دے نه نر او ماده دی
ځکه چه علم النباتات کښې ثابت کړے شویده چه په ټولو بوټو کښې نر او
ماده شته او آیت د سورة ذاریات ف۴۹ هم په دے باندے دلیل دے۔
وَمِمَّا لَا يَعْلَمُوْنَ په اوچه او دریابونو او زمکه او آسمانونو کښې داسے مخلوق شته
چه د انسانانو په علم کښې نیشته بلکه د ملائکو په علم کښې هم نیشته۔

نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَ فَاِذَا هُمْ مُّظْلِمُوْنَ ﴿۳۷﴾

راکاږو دَ هغې نه ورځ نو دغه وخت دوی په تیاره کښې وی.

وَالشَّمْسُ تَجْرِیْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ؕ ذٰلِكَ

او نمر روان دے وخت مقرر دَ هغې ته دا (حرکت دَ نمر)

تَقْدِیْرُ الْعَزِیْزِ الْعَلِیْمِ ﴿۳۸﴾ وَالْقَمَرَ

اندازه ده دَ زور اور عالم ذات. او سپوږمۍ لره

سکے ۳۷: دا یل دلیل عقلی دے تیر شوے دلیلو کښې نعمتونه مکانی او سفلی وو، او په دے کښې نعمتونه زمانی وسطی ذکر کوی او په "اٰیَةٌ" سره ئې ذکر کړو ځکه چه دا په توحید باندے ښکاره دلیل دے. نَسْلَخُ سلخ په اصل کښې پوستکے ویستل دی دَ ذبح کړے شوے خاروی نه نو دا ئې په طریقه دَ تشبیه سره ذکر کړے دے یعنی شپه پشان دَ بدن دَ خاروی ده او ورځ دَ هغې دَ پاسه پشان دَ څرمن ده. په دے کښې شپه اصل او ګرځوله ځکه چه ظلمت عدمی دے او اصل په ممکناتو کښې عدم دے او دَ دے وجې نه شپه دَ ورځې نه مخکښې حسابیګی دَ میاشتو په حساب کښې. مُّظْلِمُوْنَ په تیاره کښې آرام کیږی او دَ قیام الیل لذت په کښې حاصلیږی نو دا ئې هم په نعمتونو کښې ذکر کړو.

سکے ۳۸: دا یل دلیل عقلی دے او دا ذکر دَ مسبب ظاهری دے روستو دَ مسبب نه یعنی سبب ظاهری دَ شپے او دَ ورځے ګردش دَ نمر او سپوږمۍ دے.

لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا، مراد دَ دے نه تحت العرش دے یا وخت دَ راښکاره کیدلو دَ نمر دَ مغرب نه چه هغه قریب دَ فناء دَ دنیا دے او په دے دواړو باندے حدیث صحیح دلیل دے (تنبیه) سوال، حدیث دلالت کوی چه دا شمس سجده کوی لاندے دَ عرش نه بیا اذن طلب کوی دَ الله تعالیٰ نه نو اذن ورته کیدے شی او حال دا چه حسًا او عقلًا معلومیږی چه دا شمس په هیڅ ساعت کښې حرکت نه پریږدی بلکه هر وخت روان دے اګرچه دَ بو علاقے نه غائب شی لیکن په بله علاقه کښې غائب نه وی نو دَ دے حدیث څه مراد دے؟ جواب دا دے چه سجده دَ شمس دَ حرکت دَ هغه سره منافات نه لری په حال دَ حرکت کولو کښې هم تابع دَ حکم دَ الله تعالیٰ دے. او دَ اذن طلب کولو نه مراد دا دے چه په هره لمحه کښې په اذن دَ الله تعالیٰ سره روان وی.

قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ

مقرر کړي دي مونږه منزلونه تر دے چه واپس اوګرځي پشان د څانګے د کجورے

الْقَدِيْمِ ﴿۳۹﴾ لَا الشَّمْسُ يَنْۢبَغِيْ لَهَآ

زړے - هغه لره اسان شي چه نمر نه دے

اَنْ تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ

چه رسکالے کړي سپوږمۍ او نه شپه مخکښ کیدونکے ده د ورځ نه

وَكُلٌّ فِيْ فَلَكٍ يَّسْبَحُوْنَ ﴿۴۰﴾ وَاٰيَةٌ لَّهُمْ

او ټول په څائے د ګرځیدلو کښ لامبو وهي - او لوے دلیل د توحید د پاره د دوی

ف۳۹: دا یل دلیل دے مَنَازِلَ هره شپه چه سپوږمۍ په جدا جدا څائے کښ ښکاره کیږي نو هغې ته منازل ویلے کیږي او هغه اته ویشت ۲۸ دي او که میاشت د دیرشو دي نو دوه شپے دا سپوږمۍ پټه وي او که د یوکم دیرشو وي نو یوه شپه پټه وي - حَتّٰى عَادَ یعني د اولے شپے نه د دے شورو اوشي نو په څوارلسمه شپه باندے کامله شي نو بیا په نقصان کښ شورو شي نو په آخر کښ پشان د اول حال اوګرځي - كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ څانګه د کجورے چه زړه شي او اوچه شي نو نرئ اوکږه او زیړه شي نو دا رنګ سپوږمۍ هم اوګرځي -

ف۴۰: دا یل دلیل دے مراد دا دے چه د شپے او ورځے او د نمر، سپوږمۍ نظام نه بدلیږي - په آیت کښ درے جملے دي د اولے جملے مطلب دا دے چه د سپوږمۍ رفتار تیز دے مګر هغې ته نشي رسیدلے نو اشاره شوه چه ورځ په شپه باندے سبقیت نشي کولے په دا سے طریقه چه دواړه په یو وخت کښ راجمع شي - او د دویمے جملے مطلب دا دے چه شپه د ورځے سره نشي جمع کیدلے (سوال) که اوویلے شي چه بکار وو چه دا سے ئے ویلے وے چه وَلَا الْقَمَرُ يُدْرِكُ الشَّمْسَ؟ (جواب) سپوږمۍ په خپل رفتار کښ د نمر نه مخکښ کیدلے شي لیکن د هغې د وجے نه د شپے د ورځے اختلاط نه راځي د دریمے جملے مطلب دا دے چه نمر او سپوږمۍ دواړه حرکت او رفتار کوي او فَلَكٍ نه مراد (مدار) څائے د ګرځیدلو د دوی دے او هغه د آسمانونو نه ختنه دے اوکوم آیاتونو کښ چه فِي السَّمَاءِ راغلے دے نو مراد د هغې نه دا دے چه دا نمر، سپوږمۍ د آسمان په طرف کښ دي او دا سے په سورة انبیاء ف۳۳ کښ هم تیر شوي دي - فلك ماخوذ دے

أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿۴۱﴾

دا دے چه اوچتو موږ نسل دَ دوی په کشتئ ډکه کښې

وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ ﴿۴۲﴾

او پیدا کړیدی موږ دَ دوی دپارهٔ دَ هغې پشان هغه څیزونه چه دوی سورلی کوی په هغې باندے.

وَإِن نَّشَأْ نُغْرِقْهُمْ فَلَا صَرِيخَ لَهُمْ

او که چرے او غواړو موږ نو غرق به کړو دوی لره نو نه به وی فریادرس دوی لره

وَلَا هُمْ يُنقَذُونَ ﴿۴۳﴾ إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا وَمَتَاعًا

او نه به دوی خلاص کړے شی مګر دَ رحمت دَ وجے نه او ملاے ورکول

إِلَىٰ حِينٍ ﴿۴۴﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّقُوا

تر یو وخت پورے. او کله چه اُویلے شی دوی ته ځان بچ کړئے

دَ فلکة المغزل نه هغه سَرے ته ویلے کیږی چه په هغې سره دَ مالوچو اووړے نه تارونه جوړیږی دَ هغې حرکت چاپیره وی نو معلومه شوه چه دَ نمر سپوږمۍ حرکت هم چاپیره دے.

سا۴ سا۴۲ :- دا بل دلیل عقلی دے او نعمت دَ دریابونو ذکر کوی روستو دَ اوچ نه ذُرِّيَّتَهُمْ تمام نوع انسانی ته ویلے کیږی که مشران وی او که اولاد وی مذکر وی او که مؤنث وی. او مراد دَ دے نه نوح علیه السلام او دَ هغه ځامن دی چه په کشتئ کښې بچ کړے شوے وو دَ طوفان نه او دَ مِّثْلِهِ نه مراد کشتئ او لا نچونه وغیره دَ پاره دَ روستو خلقو. یا مراد دَ ذریة نه مطلق مشران دی او دَ فلك مشحون نه مراد مطلق کشتئ دی او دَ مثله نه مراد دَ سورلئ اسباب دی که په اوچه کښې وی او که په لوندهٔ کښې وی.

سا۴۳ سا۴۴ :- مقصد په دے کښې رد دے په شفاعة شرکیه باندے صَرِيخَ په معنیٰ دَ فریاد رس او دَ مغیث او غوث دے.

إِلَّا رَحْمَةً مِّنَّا دا استثناء ده په تقدیر سره یعنی بچ کوو موږ دوی لره دَ وجے دَ رحمت نه یعنی په الله تعالیٰ باندے دَ دوی بچ کول واجب نه دی او نه په کښې دَ الله تعالیٰ فائده ده.

مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ لَعَلَّكُمْ

دَ هغه عذاب نه چه مخکښ ستاسو دے او هغه چه روستو ستاسو دے دَپاره دَ دے چه

تُرْحَمُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ

په تاسو باندے رحم اوکړیشی۔ (نو دوی مخ واړوی) او نه راځی دوی ته هیڅ نښه دَ

اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ﴿۴۶﴾

نښو دَ رب دَ دوی نه مګر دوی دَ هغے نه مخ ګرځونکی دی۔

وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَنْفِقُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

او کله چه اُوویلے شی دوی ته خرچ کوئے دَ هغے نه چه درکړیدی تاسو ته الله تعالیٰ

قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

وائی کافران په باره دَ مؤمنانو کښ

اَنُطْعِمُ مَنْ لَّوْ يَشَآءُ اللّٰهُ اَطْعَمَهٗٓ ۖ

آیا خوراک ورکړو مونږ هغه چاته که غوښتلے الله تعالیٰ نو خوراک به یئے ورته ورکړے وَ

۴۵ ۴۶:۔ دا زجر دے په اعراض کولو دَ دوی دَ عمل دَ تقویٰ او دَ آیاتو نه۔ یعنی دَ عذاب دَ ویرے نه هم ایمان نه راوړی او دَ آیت او معجزے په لیدلو سره هم ایمان نه راوړی ربط دَ مخکښ سره دا دے چه دَ عذاب دَ غرق نه خو دَ الله تعالیٰ په رحم سره نجات حاصلیږی لیکن دَ عام عذابونو نه نجات او سبب دَ حصول رحمتِ خاصه تقویٰ ده۔

مَا بَيْنَ اَيْدِيْكُمْ وَمَا خَلْفَكُمْ دَ اول نه مراد عذاب دَ دنیا دے پشان دَ عذاب دَ تیر شوے قومونو مکذبینو او دَ دویم نه عذاب دَ آخرت دے دویم قول دَ دے برعکس دے او دَ اِذَا جزا محذوف ده چه اعرضوا دے په قرینه دَ دویم آیت سره۔

إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٤٧﴾

نه یئ تاسو مګر په ګمراهئ ښکاره کښې

ف۴۷: دا دویم زجر دے په انکار د دوی د امر د الله تعالیٰ نه په باطل عذر سره أَنفِقُوا مراد د دے نه انفاق شرعی دے یعنی د الله تعالیٰ په نوم سره په مسکینانو باندے خرچ کوئ د غیرالله په نوم په منجورانو د بتانو او د قبرونو باندے خرچ مه کوئ ځکه چه هغه انفاق نه دے بلکه اسراف دے او عام مسکینان په مکه معظمه کښې په هغه وخت کښې مؤمنان وو نو معلومه شوه چه دا امر دے په توحید سره په عبادتِ مالیه کښې صرف په صدقه ورکولو سره مشرک مخاطب نه شي کیدے۔ قَالُوا أَنُطۡعِمُ مَن لَّوۡ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطۡعَمَهُۥٓ په دے قول کښې درے احتمالونه دی اول دا چه استهزاء ده یعنی دوی د مؤمنانو نه اوریدل چه الله تعالیٰ رازق دے او دا رنګ اوریدل یئ چه مؤمنان هرڅه د الله تعالیٰ په اراده پورے معلق کوی نو دوی اوویل چه ستاسو د قول مطابق چه الله تعالیٰ د دوی د فقیرئ اراده کړے ده او هغه ورله روزی نه ورکوی نو مونږ ورله څه رنګه ورکړو۔ دویم احتمال، ابن عطیة وئیلے دی چه دوی اقرار کولو د موافقت د الله تعالیٰ سره چه الله تعالیٰ چاله روزی نه ورکوی نو مونږ هم نه ورکوو د یو بانړچی واقعه ده چه هغه به ساریه اوښان په خه وخو او ښنه زمکه کښې سرول او خوار اوښان یه یئ په شاړه او اوچه زمکه کښې سرول چا تربیه د دے په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه ورته اوویل "چه اکرام کووم د هغے چه الله تعالیٰ ورته اکرام ورکړے دے او بے عزتی کوؤم د هغے چه الله تعالیٰ بے عزتی ورکړے ده" او دا قول د دوی جهل دے ځکه چه الله تعالیٰ ابتلاء او امتحان کوی د بندګانو خپلو په امر د انفاق سره دریم احتمال قرطبی وغیره لیکلے دے چه دا قول د دوی فے نفسه صحیح دے لیکن حجت نیول په دے سره غلط کار دے او د قبیلے (کلمة حق ارید بها الباطل) د دوی مقصد صرف بخل او شومتیا کول وو د الله تعالیٰ په مشیت باندے رضا ښکاره کول د دوی مقصد نه دے۔

إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ دا قول د کافرانو دے مؤمنانو ته یعنی تاسو د الله تعالیٰ د ارادے خلاف کوئ او مونږ ته د الله تعالیٰ د مقابلے کولو حکم راکوئ نو تاسو ګمراه یئ یا دا قول د الله تعالیٰ دے کافرانو ته چه دا قول ستاسو د وجے د ګمراهئ نه دے ځکه چه تاسو د الله تعالیٰ د حکم نه انکار کوئ (پاتے په بل مخ)

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ

او وائي دوى چه كله به وى دا وعده كه چرے تاسو يئ

صَادِقِينَ ﴿۴۸﴾ مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً

رشتيني ـ انتظار نه كوى دوى مگر دَ چغے

وَاحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿۴۹﴾

يوے چه اونيسي دوى لره او دوى په جگړے كوى ـ

فائده :- امر دے په صيغه دَ انفقوا سره او دَ دوى انكار ذكر دے په لفظ أنطعم سره دَ دے وجه داده چه انفاق عام دے او اطعام په هغے كښ يو خاص اهم فرد دے نو په دے كښ اشاره ده دَ منكرينو ډير بخل او خساست ته چه عام انفاق خو نه كوى ليكن دَ هغے معمولي فرد چه خوراك وركول دى هغه هم نه كوى ـ

۴۸ :- دا دريم زجر دے په انكار كولو دَ بعث بعد الموت سره او متعلق دے دَ ما بين ايديهم او ما خلفهم سره ـ

۴۹ :- هر كله چه دَ دوى دا سوال عنادى وو نو جواب وركوى په ذكر دَ هيبت دَ دريځ دَ فنا سره ـ صَيْحَةً وَّاحِدَةً مراد دَ دے نه اوله شپيلۍ وهل دى دَ پاره دَ فنا دَ ټول عالم او وَّاحِدَةً نه مراد دے په يو ځل سره شپيلۍ وهل او فنا كيدل دا نه چه دويمه نفخه نيشته ـ او دَ هيبت دَ پاره ئے صيحه ذكر كړے ده په ځائے دَ نفخه باندے وَهُمْ يَخِصِّمُونَ يعنى دوى به دَ دنيا په خبرو نو كښ بحثونه او جگړے كوى نو په نه او يا مى حديث مرفوع كښ وارد دى "قيامت به قائم كيږى په دا سے حال كښ چه دوه سړو به يو كپړه خوره كړے وى او سودا به كوى نو را نغښتلے به ئے نه وى چه قيامت به قائم شى" او يو سړى به يو اخور دَ اوبو باندے دَ څښے يا سيمنټو پلستر كړے وى ليكن څاروى به ترينه اوبه كړے نه وى چه قيامت به قائم شى او يو سړى به تله كوزه نيولے وى لاره اوچته كړے به ئے نه وى چه قيامت به قائم شى او يو سړى به نوړئے دَ خوراك خولے ته پورته كړے وى لا تيره كړے به ئے نه وى چه قيامت به قائم شى "

فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ تَوْصِيَةً وَّلَآ اِلٰٓى اَهْلِهِمْ

تو وَس به نه لري د وصیت كولو او نه به خپلې كورنۍ ته

يَرْجِعُوْنَ ﴿۵۰﴾ وَنُفِخَ فِى الصُّوْرِ فَاِذَا هُمْ

واپس كيدے شي. او پوكے به وركړے شي په شپيلۍ كښ نو دغه وخت به دوی

مِّنَ الْاَجْدَاثِ اِلٰى رَبِّهِمْ يَنْسِلُوْنَ ﴿۵۱﴾

د قبرونو نه خپل رب طرف ته ورزغلیږي.

قَالُوْا يٰوَيْلَنَا مَنْۢ بَعَثَنَا مِنْ مَّرْقَدِنَا ٜ

دوی به وائي هائے تباهي ده چا اوچت كړو موږ د ځائے د سملاستو څموږ نه

هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۵۲﴾

دا هغه وخت دے چه وعده ئې كړے ده رحمان او رښتیا وئیلي وو رسولانو.

سنه۵۰ مقصد دا دے چه هغه ځائے كښ به سمدستي مره شي كوم ځائے كښ چه د دوی معاملے كوي مهلت دوی ته نه ملاویږي.

سنه۵۱ تخويف اخروي تفصيلاً ذكر كوي. په دے ايت كښ د دويمے شپيلۍ ذكر دے چه هغه د پاره د بعث بعد الموت ده او حديث مرفوع كښ را غلي دي چه د دوارو شپيلو ترمينځ به څلويښت كاله فاصله وي.

سنه۵۲ مَرْقَدِنَا رسوال) مرقد ځائے د خوب ته وئیلے كیږي نو معلومه شوه چه په دوی باندے په قبرونو كښ هيڅ تكليف او عذاب نه وو او حال دا دے چه ډير نصوص دلالت كوي په عذاب قبر باندے نو اول جواب دا دے چه د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دے چه عذاب د قبر تر اولے نفخے پورے دے بيا تر دويمے نفخے پورے عذاب نيشته دويم جواب دا دے چه مرقد په معنیٰ د ځائے د مرګ دے په طريقه د مجاز سره چه خوب رور د مرګ دے دريم جواب دا دے چه د قيامت هيبتونه په دوی باندے دومره زيات شول چه عذاب د قبر دوی ته د هغے په مقابله كښ ارام ښكاريږي. هٰذَا مَا وَعَدَ الرَّحْمٰنُ دا قول د الله تعالیٰ يا د ملائكو دے يا قول د منكرينو دے په طريقه د اعتراف جرم سره وَصَدَقَ الْمُرْسَلُوْنَ معلومه شوه چه بعث بعد الموت د ټولو رسولانو دعوت دے.

إِنْ كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ

نه ده دا مګر چغه يوه نو ناګاه دوی به

جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿۵۳﴾ فَالْيَوْمَ

ټول زموږ په مخکښ حاضر کړے شي. نو نن ورځ

لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا

ظلم به نشي کيدے په هيڅ نفس باندے هيڅ او نه به جزا درکيدلشي تاسو ته مګر

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۵۴﴾ إِنَّ أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ

هغه چه تاسو کوم عملونه کول. يقينًا جنتيان به

الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فٰكِهُونَ ﴿۵۵﴾ هُمْ

نن ورځ په مشغولتيا کښ وی خوشحاله به وی. دوی

وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلٰلٍ عَلَى الْأَرَآئِكِ

او د دوی بيبيانے به سورو کښ وی په پالنګونو باندے

مُتَّكِـُٔونَ ﴿۵۶﴾ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَّ

تکيه د هونکی. دوی د پاره په هغے کښ ميوے دی او

سه ۵۴: په دواړه اياتونو کښ ذکر د احوالو د قيامت دے كَانَتْ ضمير د نفخهٔ ثانيه ته راجع دے چه لفظ د نفخ په هغے باندے دلالت کوی.
۵۵ ۵۶ ۵۷ سه ۵۸: په دے اياتونو ذکر د بشارت دے مؤمنانو لره په اول ايت کښ مزے د نعمتونو او په دويم ايت کښ ذکر د ارام او د راحت د ژوند او په دريم ايت کښ ذکر د خوراکونو او په څلورم کښ ذکر د سلامونو دے فِيْ شُغُلٍ دا لفظ عام دے هغه ټولو لذتونو نعمتونو ته شامل دے چه مشغولوی به دوی لره د دنيا د نعمتونو او د اورو الو نه اګر چه د دوی اقرباء (خپلوان) وی فَاكِهُوْنَ تفسير دے د شغل يعنی دا مشغولا د غمونو د وجے نه نه ده بلکه د مزو د وجے نه ده. ظِلٰلٍ کنايه ده د ډير راحت او ارام نه. اَرَآئِكَ اريکه پالنګ د ناوے ته ويلے کيږی. مُتَّكِـُٔوْنَ اشاره ده چه دوی به فارغ وی د محنت کولو نه (اتکاء) مائل کيدل دی په يو اړخ باندے

لَهُمْ مَّا يَدَّعُوْنَ ﴿۵۷﴾ سَلٰمٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ

دوی لره هغه څیز دے چه دوی غواړی - سلام دے وینا په کیږی د طرف د رب

رَّحِيْمٍ ﴿۵۸﴾ وَامْتَازُوا الْيَوْمَ اَيُّهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۵۹﴾

رحم والا نه - (اوبه ویلے شی) او جدا شئ نن اے مجرمانو -

اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ يٰبَنِيْۤ اٰدَمَ اَنْ لَّا

آیا ما مخکښ نه دے کړے تاسو ته اے اولاد آدم چه مه کوئ

تَعْبُدُوا الشَّيْطٰنَ ۚ اِنَّهٗ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۶۰﴾

بندګی (په طاعت کولو بے دلیله) د شیطان یقیناً هغه تاسو لره دشمن ښکاره دے -

سرهٔ د اعتماد نه په یو څیز باندے یا کیناستل په طریقه د پرلت وهلو سره -
فَاكِهَةٌ نکره ده د پاره د ډیر قسمونو د میوو او په دے کښ اشاره ده چه خوراک
په د تفکه (رمزے) د پاره کوی د لوږے د وجے نه په نه کوی يَدَّعُوْنَ په معنیٰ د
تمنا او د اشتهاء سره دے سَلٰمٌ مبتدا ده خبر ئے حذف دے یعنی لهم سلام
یا بدل دے د لفظ د مَا نه یا صفت دے د مَا يَدَّعُوْنَ او په معنیٰ د مسلّم و خالص سره -
سک ۵۹ :- د دے آیت نه تر ۶۵ پورے تخویف اخروی دے - او دلته دا لفظ محذوف
دے ویقول للکفرة او اوبه وائی کافرانو ته جدا شئ اے مجرمانو -
الْيَوْمَ د دے وجے نه او یل چه په دنیا کښ دوی مخلوط وو مسلمانان او کافران
تو آخرت کښ به ئے د یو بل نه جدا اکړی یا دا چه اے مجرمانو د یو بل نه جدا
شئ یعنی دوی به مختلف ډلے شی -
سک ۶۰ :- يٰبَنِيْۤ اٰدَمَ د دے وجے نه ذکر کړو چه منع د شرک او امر په توحید
سره د آدم علیه السلام د وخت نه شوروع دے او ټول اولاد د آدم علیه السلام
په دے سره مکلف دی -
اَنْ لَّا تَعْبُدُوا عبادت په معنیٰ د طاعت دے یعنی د الله تعالیٰ د طاعت پشان
د شیطان طاعت کول دا د شیطان عبادت دے یا دا چه هره بندګی د
غیر الله عبادت د شیطان دے ځکه چه د هغه په وسوسے سره دے -

وَّاَنِ اعْبُدُوْنِیْ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِیْمٌ ﴿٦١﴾

او دا چه بندګی خاص کوئ ماله دا لار ده سمه

وَلَقَدْ اَضَلَّ مِنْكُمْ جِبِلًّا كَثِیْرًا ؕ اَفَلَمْ

او یقیناً بې لارې کړې دي (په وسوسو سره) شیطان ستاسو نه ډلې ډیرې آیا پس

تَكُوْنُوْا تَعْقِلُوْنَ ﴿٦٢﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِیْ

تاسو د عقل نه کار نه اخستلو . دا جهنم دے هغه چه

كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿٦٣﴾ اِصْلَوْهَا الْیَوْمَ بِمَا كُنْتُمْ

تاسو سره ئې وعده کیدے شوه . ورننوځئ دیته نن په وجه د دے چه

تَكْفُرُوْنَ ﴿٦٤﴾ اَلْیَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰۤى اَفْوَاهِهِمْ

تاسو کفر کوؤ . نن ورځ به مهر اُوهو مونږ په خُلو د دوی باندے

وَتُكَلِّمُنَاۤ اَیْدِیْهِمْ وَتَشْهَدُ اَرْجُلُهُمْ

او خبرے به کوی مونږ سره لاسونه د دوی او ګواهی به کوی خپے د دوی

سلا :- دا امر د توحید دے او دا دلیل دے چه صراط مستقیم توحید ته ویلے کیږی.

سلا :- دا علت دے د دشمنئ د شیطان او زورنه ده مشرکینو ته چه د تیرشوؤ گمراه قومونو د حالت نه تاسو عبرت ولے نه حاصلوؤ.

جِبِلًّا مراد د دے نه خلق او ډلے دی او تفسیر سراج المنیر کښ ذکر کوی چه په دے لفظ کښ اشاره ده چه دا مخلوق د غرونو پشان غټ وو لیکن سره د دے نه شیطان دهوکه کړل.

سلا سلا :- یعنی جهنم به ورته ښکاره کړیشی نو دا سے خطاب به ورته او کړیشی نو معلومه شوه چه مخکښ حال د میدانِ حشر وؤ او بیا به ئې جهنم ته داخل کړی.

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَطَمَسْنَا

په هغه کارونو باندې چه دوی کول۔ او که چرې اوغواړو مونږ نو ورلي به کړو

عَلٰٓى اَعْيُنِهِمْ فَاسْتَبَقُوا الصِّرَاطَ فَاَنّٰى

سترګې دَ دوی نو روانده کیږی به لارې ته نو څه رنګ به

۶۵:۔ په دې تخویف کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ به په آخرت کښ فیصلې صرف په خپل علم سره نه کوی بلکه دَ دنیا دَ فیصلو پشان به فیصلې په اقرار او په شهادتونو سره کوی۔ اَلْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلٰٓى اَفْوَاهِهِمْ دَ دې مشهوره وجه داده چه دوی به انکار اوکړی دَ شرک نه لکه چه په سورة انعام ۲۲ او حم مؤمن ۷۴ کښ دی او دا انکار یې دروغ دې نو خولے به ورله بندې کړی یا دَ دې وجه چه اقرار دَ غیر ناطق پوره حجت دے په نسبت دَ اقرار دَ ناطق سره۔ او دَ دې ایت تشریح په حدیث دَ مسلم او ترمذی کښ شته چه ډیرو مفسرینو دلته نقل کړیدی۔

(فوائد) اوله فائده:۔ نسبت دَ ختم الله تعالیٰ ځان ته کړے دے او نسبت دَ کلام دَ لاسونو یې ځان ته نه دے کړے اګر چه کلام دَ لاسونو او خپو هم په قدرت دَ الله تعالیٰ سره دے په دې کښ اشاره ده چه کلام دَ لاسونو او خپو په جبر سره نه دے بلکه په اختیار سره دے او ختم دَ خولے په جبر دَ الله تعالیٰ سره دے۔

دویمه فائده:۔ لاسونو ته نسبت دَ کلام او خپوته یې نسبت دَ شهادت اوکړو وجه داده چه اکثر عملونه په لاسونو سره کیږی او خپے حاضرے وی نو قول دَ کوؤنکی اقرار وی او قول دَ حاضر شهادت وی۔

دریمه فائده:۔ که سوال اوشی چه لاسونو او خپو چه ناکاره عملونه کړی دی نو دوی فاسقان دی او شهادت دَ فاسق نه قبلیږی۔

اول جواب دادے چه دوی دا کارونه په اختیار سره نه دی کړی نو دوی ته نسبت دَ فسق نشی کیدلے۔

دویم جواب دادے چه دَ دوی دَ شهادت دَ ردکولو په ضمن کښ دَ شهادت قبلول دی ځکه چه دوی به د غه ورځ یا رښتیا وائی یا دروغ که رښتیا وائی نو جرمونه په دوی باندې ثابت شول او که دروغ او ائی نو ضرور به دوی په دنیا کښ هم ګناهونه کړے وی۔ لکه چه یو فاسق ته او یلے شی که تا دروغ ویلې وی په دن ورځ کښ نو زما مرینې دِ آزاد وی نو که هغه او ائی رپاتے په یل مخ)

يُبْصِرُوْنَ ﴿۶۶﴾ وَلَوْ نَشَآءُ لَمَسَخْنٰهُمْ عَلٰى

او كه چرے او غواړو موږ نو بدل به كړو شكلونه د دوى په ځايونو په دوى په ځاى كښې ليدل كوى -

مَكَانَتِهِمْ فَمَا اسْتَطَاعُوْا مُضِيًّا وَّلَا يَرْجِعُوْنَ ﴿۶۷﴾ ع ۳

خپلو ځايونو باندے نو طاقت به نه لرى د تلو او نه به واپس راګرځيدے شى -

چه ماتن دروغ ويلے دى نو مرېئ ازاد شو ځكه كه دهٔ واقعى دروغ ويلے وى نو شرط موجود شو او كه دروغ نه وى ويلے او بيا هم وائى چه ما دروغ ويلے دى نو بيا هم شرط موجود شو نو جزاء به واقع كيږى -

۶۶ :- دا تخويف دنيوى دے ربط ئے دا دے هر كله چه تير شوى ايت كښې بندول د خلو ذكر كړل نو په دے ايت كښې ذكر كوى چه په دنيا كښې هم الله تعالىٰ قادر دے چه د دوى سترګے بندے كړى او دا په شان د ولو شاء الله لذهب بسمعهم وابصارهم (بقره ۲۰) دے - يعنى لكه چه الله تعالىٰ د دوى باطنى سترګے د هدايت نه ړندے كړے دى دارنګ قادر دے چه د دوى ظاهرى سترګے هم بندے كړى - دويم تفسير دا دے چه الله تعالىٰ او غواړى نو د دوى د ګمراهئ سترګے به بندے كړى او د ګمراهئ نه به ئے هدايت ته واړوى ليكن هر كله چه الله تعالىٰ دا سے نه دى كړى نو فانّى يبصرون -

لَطَمَسْنَا طمس په اصل كښې هغه ړوندوالى ته ويلے كيږى چه د سترګو چودونه ئے هم نه وى او زيږے او بانړه ئے هم نه وى -

۶۷ :- دا دويم تخويف دنيوى دے تير شوى ايت كښې صرف د سترګو طمس وؤ نور صورت انسانيه باقى دے او په دے ايت كښې ټول صورت او شكل انسانى مسخ كول مراد دى چه ګنه شى با شادو او خنزير ته جوړ شى -

عَلٰى مَكَانَتِهِمْ يعنى د مسخ كولو نه مخكښې چه په كوم مكان كښې ولاړ يا ناست وى نو د هغه ځائے نه د خوزيدلو نه ړواندے به مسخ شى يا مراد د ګناه مكان د ګناه كولو دے - مُضِيًّا رواندے تلل وَلَا يَرْجِعُوْنَ روستو راتلل مراد دى يا دا سے ځناور ترينه جوړ شى چه د فائدے ځائے نه پيژنى نو حيران په خپل ځائے باندے ولاړ وى -

وَمَنْ نُّعَمِّرْهُ نُنَكِّسْهُ فِى الْخَلْقِ ؕ اَفَلَا

او هغه څوک چه زیات عمرورکړو موتر هغه ته نو کمزوری ئے پیدا کړو مونږ په اندامو کښ ئے ایا نو دوی

يَعْقِلُوْنَ ﴿۶۸﴾ وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْۢبَغِىْ

عقل نه لری - او نه دے خودلے مونږ دے (نبی ته) شعر جوړول او نه مناسب دے

لَهٗ ؕ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٌ وَّقُرْاٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۶۹﴾

ده لره، نه دے دا کتاب مگر نصیحت او قرآن ښکاره دے -

ف ۶۸ :- دا دلیل دَ ماقبل دے یعنی دَ قوتونو په زائل کولو باندے الله تعالیٰ قادر دے ځکه چه دَ بوډاوالی په حالت کښ ټول طاقتونه ظاهری او باطنی کمزوری کوی لیکن انبیاء علیهم السّلام دَ دے نه بچ دی اَلْخَلْقِ دَ دے نه مراد شکل او اندامونه او قوّتونه دی -

ف ۶۹ :- په دے ایت کښ صداقت دَ قرآن او دَ رسول ذکر کوی متعلق دَ دَ ابتدا دَ سورت سره او جواب دَ اعتراض دَ مشرکانو دے هغوی ویل چه دا قرآن شعر دے او دا نبی شاعر دے او شاعران اکثر دروغژن وی -

او ربط دَ دے دَ تیر شوی ایت سره دا دے چه تیر شوی ایت کښ دَ عامو خلقو ظاهری او باطنی کمزورئ ذکر او شو نو په دے ایت کښ دَ پیغمبر شان ذکر کوی چه په هغه ضعف نیشته - وَمَا يَنْۢبَغِىْ لَهٗ یو معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ تعلیم دَ شعر جوړولو نه دے ورکړے نو ده لره دَ شعر جوړول آسان نه دی -

دویمه معنیٰ دا ده چه شعرونه جوړول دَ ده دَ شان سره مناسب نه دی ځکه چه په شعر جوړولو کښ تکلّف وی او دا دَ مَا اَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِيْنَ نه خلاف دے او دارنگ شعرونه اکثر دَ حقیقت نه خلاف مضمون باندے مشتمل وی او هرچه فصاحت او بلاغت دے نو هغه الله تعالیٰ نبی صلّی الله علیه وسلم ته په اعلیٰ مرتبه کښ ورکړیدے -

فائده :- په دے سورت کښ نفی دَ شعر ئے صرف او کړه نفی دَ کهانت او دَ سحر ئے نه ده کړے وجه دا ده چه کاهن به دوی هغه وخت ویل چه څه اخبار بالغیب به ئے ورکړے وو او ساحر به ئے هغه وخت ویل چه څه معجزه به ئے پیش کړے وه او شاعر به دوی هغه وخت ویل چه فصاحت بلاغت سره به مضمون ذکر شو نو په دے سورت (پاتے په بل مخ)

لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيًّا وَيَحِقَّ الْقَوْلُ

ډ دے ډپاره چه ویره ورکړي دے هغه چاته چه ژوندے وي (ژړه ډهغه) او پوره په شي حجت

عَلَى الْكٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا

په کافرانو باندے . آیا او دوی نه ګوري چه یقیناً پیدا کړي دي مونږ

لَهُم مِّمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ

دوی لره ډ هغه قسم نه چه جوړکړیدي لاسونو زمونږ څاروي نو دوی په

لَهَا مٰلِكُونَ ﴿٧١﴾ وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا

هغې لره مالکان دي . او تابع ګرځولے دي مونږ هغې لره ډدوی ډپاره نو بعض ډ هغې نه

رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ﴿٧٢﴾ وَلَهُمْ

سورلۍ ډدوی دي او بعض ډ هغې نه خوري دوی . او دوی لره

کښ اولنی دوارو (اخبار بالغيب او معجزه) نه وه بلکه دریم څیز په کښ دے نو دوی اعتراض اوکړو چه دا شعر دے نو ډ هغې نفي یې تمامه ذکر کړه .

ښ٧٠ . په دے ایت کښ دوه فائدے ذکر کړی په لف نشر مرتب سره یعنی هر کله چه ذکر دے نو فائده ډ دے انذار دے او هر کله چه قرآن (لوستل) ښکاره دی نو حجت به قائم شي په کافرانو باندے .

حَيًّا مراد ترینه حیات ډ قلب دے چه ډ هغوی ذکر ډ سورة په سلا کښ شوید ے .

سلا سلا سلا ډ دے ایت نه تر آخر پورے دریم باب دے په دے کښ درے عقلی دلیلونه دي په رد ډ شفاعت شرکیه باندے بیا زجر دے مشرکینو ته او تسلی ده رسول صلی الله علیه وسلم ته بیا زجر دے منکرینو ډ بعث بعد الموت ته او شپږ عقلی دلیلونه دي په اثبات ډ قیامت باندے . په دے درے آیاتونو کښ انعامات ذکر کوي په باره ډ څارووکښ په اول ایت کښ نعمت ډ ملکیت یې ذکر کړے دے او دا ملکیت ظاهري دے او په دوم ایت کښ درے نعمتونه ذکر کړیدي تذلیل (تابعداري کیدل) او سورلی او خوراک . او په دریم ایت کښ دوه نعمتونه ذکر کړیدي منافع ډ هغوی دینته ورځ پشم څرمنے هډوکي چربي وغیره ومشارب یې جمع ذکر

فِيْهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ ۚ اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٧٣﴾

په هغې کښې نفع دی او د څکلو څیزونه دی ایا نو دوی شکر نه کوی.

وَاتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ اٰلِهَةً لَّعَلَّهُمْ

او جوړ کړے دی دوی سیوا د الله تعالیٰ نه حق دار د بندګۍ د دے د پاره

يُنْصَرُوْنَ ﴿٧٤﴾ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَهُمْ ۙ

چه دوی سره مدد اوکړے شی. طاقت نه لری هغوی د مدد کولو د دوی

وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ مُّحْضَرُوْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَا يَحْزُنْكَ

او دوی هغوی لره لښکر دے حاضر کړے شوے. نو غمژن دِ نه کړی تا لره

کړیدے اشاره ده اختلاف د اقسامو ته چه پئ، لسی، شوملے وغیره دی.
مِمَّا عَمِلَتْ اَيْدِيْنَا مِنْ بیانیه دے د انعامًا د پاره یعنی انعام (څاروی) الله تعالیٰ
په خپلو لاسونو سره جوړ کړیدی د بل چا پکښ هیڅ دخل نیشته اشاره ده
رد کولو ته په مشرکینو باندے چه د دوی شفعاؤ په دے څاروؤ کښ
هیڅ عمل نه دے کړے نو دا مشرکان د څه وجے نه د هغوی په نوم باندے
دا څاروی منځته کوی یا د هغوی پئ په بوُلسه کښ ورکوی یا د هغوی
په نوم یئ ذبح کوی او دا مقصد دے په اَفَلَا يَشْكُرُوْنَ کښ ځکه چه د
شکر نه مراد توحید دے.
٧٤: دا زجر دے په شرک سره او دا تفصیل د لَا يَشْكُرُوْنَ دے.
لَعَلَّهُمْ يُنْصَرُوْنَ معلومه شوه چه لوے مقصد د شرك فی الالوهیة مدد د
الهوته حاصلول دی د دے وجے نه رامدد شه اوازونه کوی.
٧٥: دا رد دے د دوی په امید رد (تصرت) باندے. وَهُمْ لَهُمْ جُنْدٌ
مُّحْضَرُوْنَ اول ضمیر راجع دے عابدانو (مشرکانو ته) او دویم ضمیر راجع دے
الهوته مراد دا دے چه دا مشرکان د دے معبودانو د پاره پشان د پولیس
او د فوج دے چه د هغوی څوکیداری کوی چه څوک ترینه څه څیز
او نه تختوی او نقصان ورته او نه رسوی او دا رنګ که څوک موُحد د هغوی
عجز بیانوی نو دوی په هغوی باندے غصه کیږی او موُحد لره بے عزتی کوی
او دا حال بعینهٖ د قبر پرستو خلقو دے او دویم احتمال دا دے چه اول ضمیر
راجع دے معبودانو ته او دویم عابدانو ته په دے کښ (پاتے په بل مخ)

قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

وینا دَ دوی یقینا مونږ پوهیږو په هغه څیز چه دوی ئې پټوی او هغه چه دوی ئې ښکاره کوی۔

أَوَلَمْ يَرَ الْإِنسَانُ أَنَّا خَلَقْنَاهُ مِن نُّطْفَةٍ

آیا نه ګوری انسان چه مونږ پیدا کړے دے دَ نطفے نه

فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾ وَضَرَبَ لَنَا

نو ناګاهه دے جګړه مار ښکاره دے۔ او ذکر کړے دے زمونږ دپاره یو

مَثَلًا وَنَسِيَ خَلْقَهُ ۖ قَالَ مَن يُحْيِي الْعِظَامَ

اعتراض او هیر کړے دے پیدائش خپل وائی څوک به ژوندی کړی هډوکی

وَهِيَ رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾ قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي

او حال دا چه دا به ذرے ذرے وی۔ ته اُوایه ژوندی به کړی دے لره هغه ذات

بیا دوه توجیهات دی اوله توجیه دا ده چه دا دَ دے مشرکانو په زعم او په عقیده باطله باندے بنا دے دویمه توجیه دا ده چه لام په معنیٰ دَ علیٰ سره دے یعنی دَ الٰهه به دَ دوی په ضد او مخالفت کښ لښکرے حاضروی په ورځ دَ قیامت کښ لکه چه سورة مریم ۸۲ ویکونون علیهم ضدا او سورة احقاف ۶ کښ دی۔

٧٦ :- دا تسلی ده رسول صلی الله علیه وسلم ته۔ قَوْلُهُمْ مراد دَ دے نه دَ دوی اقوال شرکیه او تکذیب دَ رسول دے او انکار دَ قیامت دے چه هغه په روستو ایت کښ ذکر دے۔

٧٧ :- دا زجر دے په انکار دَ قیامت سره۔ او په دے کښ عام منکر انسان مراد دے او په دے زور نه کښ سختی ده په یو څو وجوهو سره۔

اوله وجه دا ده چه دے خپل خالق سره جګړه کوی۔

دویمه وجه دا چه دے ډیر سپک او ادنیٰ دے او دَ لوے اعلیٰ ذات نه مخالفت کوی۔

او دریمه وجه دا ده چه دَ لوے نعمت ناشکری کوی۔

٧٨ :- دا بیان دَ خصومت دَ هغه دے وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا مراد دَ دے نه صرف ذکر کول دَ عجیبه خبرے دی ځکه چه انکار کول دی، دَ ریا ته په بل مخ ›

أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ

چه پیدا کړی دی اول کرت او هغه په ټول مخلوق پاتدے

عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾ الَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ

ښهٔ پوهه دے داهغه ذات دے پیدا کړیدے ستاسو دپاره دَ

الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَا أَنتُم مِّنْهُ

شنهٔ اونے نه اُور نو تاسو دَ هغې نه

تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾ أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ

بلوئې اُور آیا او نه دے هغه ذات چه پیدا کړیدی

قدرت او دَ علم دَ الله تعالیٰ نه ډیره عجیبه ده .یامراد داچه دے انسان
قدرت او علم دَ الله تعالیٰ دَ خپل قدرت او دَ علم پشان کنړلے دے۔
وَنَسِيَ خَلْقَهُ مراد دَ نسیان نه ذهول او غفلت دے۔
ف۷۹:- دا جواب دَ قول دَ دغه منکر دے په ذکر دَ قدرت دَ الله تعالیٰ په قیاس
کولو سره په اول پیدائش باندے او په ذکر دَ علم دَ الله تعالیٰ
سره په ټولو ذرّاتو دَ مخلوق باندے نو په ذرّاتو دَ هډوکو دَ مړو باندے
هم علم لری او په دے آیاتو نوکښ اشاره ده چه دَ مرګ او ژوند حلول
په هډوکوکښ هم شته دے او دا اول دلیل دے په اثبات دَ حشر باندے
ف۸۰:- دا بل دلیل دے په اثبات دَ قیامت باندے یعنی لکه چه اور پیدا
کوی دَ شنے اونے نه او دا ډیر عجیبه ده ځکه چه په یو ځائے کښ اوبه او
اور او لرګے یے جمع کړیدی نو دا رنګ دَ اوچو خاورو نه دوباره انسان
لره پیدا کولے شی۔
الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ مراد دَ دے نه هر شنه اونه ده. حکماؤ ویلے دی په هره
اونه کښ اور شته سوا دَ عنّاب (مخزنړے) نه او دا وجه ده چه دَ بجلئ
تار په شنے اونے کښ شاټ (کرنټ) پیدا کوی ځکه چه دوه اورونه یو
ځائے شول۔ یامراد دَ دے دوه قسمه اونے دی چه مرخ او عفار ورته
ویلے کیږی پاتړه یا لرګے دَ مرخ (چه مذکر دے) په عفار باندے
(چه مؤنث ده) او څولوی نو اُور ترے پیدا شی۔

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِقٰدِرٍ عَلٰٓی اَنْ یَّخْلُقَ

اسمانونه او زمکه قدرت لرونکے په دے خبره باندے پیدا کری

مِثْلَهُمْ ؕ بَلٰی ۗ وَهُوَ الْخَلّٰقُ الْعَلِیْمُ ﴿۸۱﴾ وقف غفران

دَ دوی پشان او هغه ډیر پیدائش کوونکے او ښهٔ پوهه دے

اِنَّمَآ اَمْرُهٗٓ اِذَآ اَرَادَ شَیْئًا اَنْ یَّقُوْلَ لَهٗ کُنْ

یقینًا حکم دَ هغه کله چه اوغواړی پیدا کول دَ یو څیز چه اُوائی هغے ته او شه

فَیَکُوْنُ ﴿۸۲﴾ فَسُبْحٰنَ الَّذِیْ بِیَدِهٖ

نو هغه اوشی - نو پاک دے هغه ذات چه په لاس دَ هغه کښ

مَلَکُوْتُ کُلِّ شَیْءٍ وَّاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۸۳﴾ ع ۵

بادشاهی دَ هر څیز ده او خاص هغه ته به اوګرځولے شئ تاسو۔

سـ۸۱:۔ دا بل دلیل دے په اثبات دَ بعث بعد الموت باندے۔ مِثْلَهُمْ ضمیر متکرینوته راجع دے او مراد دَ مثل نه نفسونه اوذوات دَ دوی دی دا سے په سورۃ اسراء سـ۹۹ کښ تیر شوے دی او سورۃ احقاف سـ۳۳ کښ هم شته۔ اوهر کله چه په دے ایت کښ ذکر دَ اسمانونو او دَ زمکے دے چه غټ مخلوق او ډیرو اجزاؤ والا دی نو دَ دے وجے نه خلاق اوعلیم ئے دَ مبالغے صیغے په صفاتو دَ الله تعالیٰ کښ ذکر کړے دی۔

سـ۸۲:۔ دا هم دلیل دے په اثبات دَ قیامت باندے دلته دَ اَمْرُهٗ نه مراد صفت او شان دَ الله تعالیٰ دے یا مراد تربیته امر دَ ساعت (قیامت) دے یعنی امر دَ الله تعالیٰ په باره دَ قیامت کښ لکه چه سورۃ نحل سـ۷۷ کښ دی۔

سـ۸۳:۔ داهم دلیل دے اونتیجه ده دَ ټولو دلیلونو تیر شوؤ په بیان دَ توحید سره په سبحان کښ او په ذکر دَ قیامت سره په الیه ترجعون کښ۔ دَ مَلَکُوْتُ نه مراد ملکیت او تصرف ظاهری او باطنی دے۔

ختم شو تفسیر دَ سورۃ یٰسٓ په توفیق دَ الله تعالیٰ سره

په تاریخ ۲۰ ذوالقعده ۱۴۱۵ھ مطابق ۱۸ اپریل ۱۹۹۵ء کښ۔

سُوْرَةُ الصّٰفّٰت ۳۷ مَكِّيَّةٌ ۵۶ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۸۲ رُكُوْعَاتُهَا ۵

وَالصّٰٓفّٰتِ صَفًّا ① فَالزّٰجِرٰتِ زَجْرًا ②

قسم دے په هغه ملائکو باندے چه صفونه جوړوی صفونه. بیا هغه چه شړونکی دی په شړلو سره.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الصَّافَّاتِ

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه په هغه سورت کښ رد وُو په شفاعتِ قهریه (شرکیه) باندے نو په دے سورت کښ دَ هغې علت ذکر کوی چه هغه عجز او احتیاج دَ نیکانو بندګانو دے. دویمه وجه داده چه مخکښ سورت کښ عقلی دلیلونه وو نو په دے سورت کښ نقلی دلیلونه ذکر کوی. دریمه وجه داده چه په هغه سورت کښ اثبات بعث بعدالموت وُو په دلیلونو سره نو په دے سورت کښ ذکر کوی حالات دَ خلقو په ورځ دَ قیامت کښ تخویفًا وبشارةً.

دعویٰ دَ سورت. اثبات دَ توحید دے په ذکر کولو دَ احتیاج او دَ عجز دَ ملائکو او احتیاج او عبدیت دَ پیغمبرانو او ذلت دَ جنّاتو سره دَ رد دَ شرك بالملائکه والجن والانبیاء نه او رد دَ شرک فی العبادة والدعاء دے. احوال دَ ملائکو په ۱ ۲ ۳ ۱۶۴ ۱۶۵ ۱۶۶ کښ او احوال دَ جنّاتو ۷ ۸ ۹ ۱۰ ۱۵۸ ۱۶۰ ۱۶۱ کښ ذکر کوی. او احوال دَ اوو پیغمبرانو، نوح او ابراهیم او موسیٰ سره دَ هارون او الیاس او لوط او یونس علیهم السلام نه او ماخذ دَ دعوے په آخر دَ سورت ۱۸۱ کښ دے چه انبیاء علیهم السلام محتاج دی الله تعالیٰ ته په سلامتیا کښ او دعویٰ دَ توحید ۱۸۰ ۱۸۲ کښ ذکر ده.

خلاصه دَ سورت. په دے کښ درے بابونه دی. اول باب تر ۷۴ پورے دے په دے کښ احوال دَ ملائکو دپاره دَ شهادت په توحید باندے دی بیا تذلیل دَ جناتو ذکر کوی تر ۱۰ پورے بیا څلور قسمه زجرونه ذکر کوی تر ۲۰ پورے بیا براءة دَ الهو باطلو او دَ عابدانو ریا ئے په بل ځ)

فَالتّٰلِيٰتِ ذِكْرًا ﴿۳﴾ اِنَّ اِلٰهَكُمْ لَوَاحِدٌ ﴿۴﴾

بیا هغه چه لوستونکی دی ذکر لره (په طریقه د شهادت سره په ذکر باندے) چه یقیناً حق دار د بندګئ ستاسو یو ذات دے

رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا وَرَبُّ

رب د اسمانونو او د زمکے او د مینځ د دواړو دے او رب

د هغوی د یو بل نه ذکر کوی تخویفاً تر ۳۲ پورے بیا بشارت تفصیلیه تر ۶۱ او تخویف اخروی تفصیلی تر ۷۴ پورے ذکر کوی۔

تفسیر

۱ ۲ ۳ ۴ :- په دے کښ صفات د ملائکو دی او دا غوره قول دے چه ملائک د الله تعالیٰ بندګے د پاره په صفونو کښ ولاړ دی لکه چه صحیح حدیث کښ وارد دی چه "صفونه د دے امت د پاره د موځ د جماعت په شان د صفونو د ملائکو دی چه اولنی صفونه پوره کوی او د یو بل سره پیوست ولاړ وی"۔ او ملائک زجر کوی (شړی) شیطانانو لره د اسمان نه او شړی وریځو لره د یو طرف نه بل طرف ته او منع کوی مؤمنانو لره د ګناهونو نه په الهام د خیر سره۔ او ملائک تلاوت کوی د وحی او ذکر کوی الله تعالیٰ لره په تسبیح او حمد او تقدیس سره۔ او دویم قول دا دے چه مراد د دے نه جماعتونه د مؤمنانو چه دا درے کارونه کوی۔ او د دے قسم کولو تفصیل په ابتدا د سورة یٰسٓ کښ تیر شویدے چه دا په طریقه د استشهاد سره دے یعنی دا حالات د ملائکو (چه د عجز او د عبدیت لله تعالیٰ دی) شهادت کوی په توحید د الله تعالیٰ باندے چه دا ملائک او نور مخلوق هم د الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے۔

فائده :- فا په ۲ او ۳ کښ د پاره د ترتیب وجودی ده یعنی اول صفونه جوړول بیا شړل د شیاطینو دی او بیا تلاوت او ذکر کول دی یا فا د پاره د تفاوت د دے صفتونو ده یا د پاره د فرق د موصوفاتو ده۔

الْمَشَارِقِ ۝۵ اِنَّا زَيَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْيَا
ذَ مشرقونو دے ۔ یقیناً خائسته کړے دے موږ اسمان نژدے

بِزِيْنَةِ الْكَوَاكِبِ ۝۶ وَحِفْظًا مِّنْ كُلِّ
په خائست سره چه ستوری دی او ساتلے دے موږ په ساتنے سره دَ هر

ف ۵ ۔ دا دلیل عقلی دے دَپاره دَ توحید روستو دَ دلیل نقلی او دَ قسم نه ۔۔
الْمَشَارِقِ دا ئے جمع ذکر کړے ده لکه په سورة معارج ۴۰ کښ دی
ځکه چه مراد دَ دے نه دَ هرے یوے ورځے دَ نمر ښکاره کیدلو ځائے دے او
هغه درے سوه ۳۶۵ او پنځه شپیته دی لکه چه امام قرطبی ذکر کړے دی
او درے سوه ۳۶۰ شپیته خطیب شربینی ذکر کړے دی او یو سل ۱۸۰ اتیا ابن
عطیه په محرر الوجیز کښ ذکر کړے دی والله اعلم لیکن مشهور قول
اول دے ۔ او الْمَغَارِبْ ئے نه دے ذکر کړے ځکه چه ذکر دَ مشرق
دلالت کوی په مغرب باندے او بله وجه دا چه مقصود دَ نمر نه رڼا ده
او هغه په ښکاره کیدلو دَ نمر سره ده او دَ دے وجے نه مطالع ئے نه دی ویلے
او بله وجه دا ده چه په نمر ښکاره کیدلو کښ استدلال ښکاره دے په نسبت
دَ غروب دَ هغهٔ سره ۔
ف ۶ ۔ دا هم دلیل عقلی دے په توحید باندے او تمهید دَپاره دَ حال دَ پیریانو
دے چه دوی عاجز او ذلیل دی نو څه رنګ دَ الله تعالیٰ سره شریک کیدے
شی یا زور اور سفارشی جوړیدے شی او رد دے په مشرکین بالجن باندے
او دا رنګ دا رد په مشرکین بالکواکب باندے هم دے ځکه چه ستوری صرف دَ
زینت او دَ حفاظت دَ پاره پیدا کړے شویدی معبودان نشی جوړیدے
او په دے ایت کښ ئے دَ ستورو یوه فائده ذکر کړه یعنی زینت دَ
اسمان او هم دغه سورة حجر ۱۶ کښ تیر شویدی ۔ او هر کله چه دا ستوری
دَ لاندے نه انسانانو ته دَ اسمان سره پیوست ښکاریږی اګر چه دَ اسمان نه
کوز دی لکه نورو روایاتو او علم هیئت سره معلوم شویدی نو زینت ئے اسمان
ته منسوب کړو او دلالت کوی چه یو جائز څیز صرف دَ زینت دَپاره استعمالول
جائز دی په دے شرط چه دَ حد شرعی نه بهر نه وی ۔

شَيْطٰنٍ مَّارِدٍ ﴿۷﴾ لَا يَسَّمَّعُوْنَ اِلَى الْمَلَاِ

شیطان سرکش نه۔ غوږ نشي ګنجولے مجلس

الْاَعْلٰى وَيُقْذَفُوْنَ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ ﴿۸﴾

بره ته او ویشتلے کیدے شي د هر طرف نه۔

دُحُوْرًا وَّلَهُمْ عَذَابٌ وَّاصِبٌ ﴿۹﴾ اِلَّا

رټلے کیدے شي په رټلو سره او دوی لره عذاب پیوست کیدونکے دے مګر

مَنْ خَطِفَ الْخَطْفَةَ فَاَتْبَعَهٗ شِهَابٌ

هغه څوک چه او تختوی څه خبره په تختولو سره نو روانه شي په هغه پسے شغله

ثَاقِبٌ ﴿۱۰﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ اَهُمْ اَشَدُّ

بلیدونکے۔ نو تپوس اوکړه آیا دوی پوخ

ت ۸ ۹ ۱۰:۔ په دے آیاتونو کښې دویمه فائده دَ ستورو ذکر کوی
لکه سورة حجر ۱۷ کښې تیر شویدہ او په دے کښې دَ شیطانانو اته حالتونه
ئې ذکر کړے دی۔ مَارِدٍ خالی دَ خیر نه (م ر د) دلالت کوی په
خالی والی باندے لکه آمرد (دَ ګیرے نه خالی)۔ الْمَلَاِ الْاَعْلٰى مجلس
دَ اشرافو او دَ افضل ملائکو چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ وحی په باره کښې مجلس
کوی۔ وَاصِبٌ همیشه او هغه چه اثر ئې زړه ته ور رسیږی۔ الْخَطْفَةَ
یعنی یوه خبره دَ خبرو دَ ملائکو نه په پټه غوږ سارنے سره را او تختوی۔
اِلَّا مَنِ استرق السمع سورة حجر ۱۸ کښې تیر شویدے۔ شِهَابٌ هغه شغله
دَ اور چه دَ ستوری نه راجدا کړے شي او رڼا کوی۔
فائده:۔ دَ نبوت دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه ړواندے هم شیاطین په داسے
شغلو سره ویشتلے کیدل لیکن هغه لږ وو او روستو دَ شورو کیدلو دَ نزول
قرآن نه دا شغلے ډیرے شوے دَ هر طرف دَ آسمان نه شو رو شوے دَ
دَ پاره چه دَ کاهنانو دَ خبرو دَ وحی نه په قرآن کریم کښې تلبیس پیدا نشی
او دَ حفاظت دَ قرآن دَ وحی او دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ همیشه صداقت
دَ پاره دا معامله دَ شیاطینو سره روستو دَ وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم
نه هم باقی ده۔ او بعض بحث دَ دے په آخر دَ سورة شعراء کښې هم تیر شوے دے۔

خَلْقًا اَمْ مَّنْ خَلَقْنَا ؕ اِنَّا خَلَقْنٰهُمْ مِّنْ

پیدائش والا دی اوکه هغه څوک چه موږ پیدا کړیدی ، یقیناً پیدا کړیدی موږ دوی لره د

طِیْنٍ لَّازِبٍ ⑪ بَلْ عَجِبْتَ وَیَسْخَرُوْنَ ⑫

خټې نه چه سلیښناکه وه ۔ بلکه ته تعجب کوې او مسخرې کوی (دوی) ۔

وَاِذَا ذُكِّرُوْا لَا یَذْكُرُوْنَ ⑬ وَاِذَا رَاَوْا

او کله چه دوی ته نصیحت کیدیشی نو نصیحت نه قبلوی ۔ او کله چه اُوینی

اٰیَةً یَّسْتَسْخِرُوْنَ ⑭ وَقَالُوْۤا اِنْ هٰذَاۤ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِیْنٌ ⑮

معجزه خو یو مسخره ترینه جوړه کړی۔ او دوی وائی نه دے دا مگر جادو ښکاره دے ۔

لله :. دا زجر دے منکرینو دَ بعث بعد الموت ته او مراد دَ مَنْ خَلَقْنَا نه ملائک او مشرق اوستوري او شیاطین او شهابونه (شغلے) دی چه مخکښ ذکر شول چه الله تعالیٰ دَ دے څیزونو پیدائش باندے قادر دے نو دوباره پیدا کولو دَ انسانانو باندے هم قادر دے لکه سورة نازعات ۲۸ او سورة غافر ۵۷ کښ دی یا مراد دَ من خلقنا نه تیر شوے اُمّتونه دی چه هلاک کړے شویدی چه الله تعالیٰ دَ هغوی په هلاکولو قادر وؤ نو دَ دے موجوده منکرینو په اِهلاک باندے هم قادر دے۔ لَّازِبٍ هغه خټه چه ډیر وخت پرے تیر شی خمیره شی او بیا لاسونو پورے انخلی او هغے ته سلیخ ناکه ویلے کیږی۔

۱۲ :. دا زجر دے په انکار دَ رسالت سره وَیَسْخَرُوْنَ واو حالیه دے یعنی په حال دَ مسخرو کولو په تا پورے او په قرآن پورے ته تعجب کوے دَ انکار او دَ مسخرو دَ دوی نه یا واو عاطفه دے یعنی تعجب کوے دَ انکار دَ دوی دَ توحید او دَ قیامت نه او دوی مسخرے کوی۔

۱۳ ۱۴ ۱۵ :. په اول ایت کښ زجر دے په انکار دَ قرآن او دویم ایت کښ زجر دے په انکار دَ معجزے او دَ رسالت۔

یَسْتَسْخِرُوْنَ باب استفعال دَ طلب دَ پاره دے یعنی یو بل ته طلب کوی چه په دے پورے مسخره او کړے۔

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَبْعُوْثُوْنَ ﴿۱۶﴾

آیا کله چه مونږ مړه شو او خاورے او هډوکی شو آیا مونږ دوباره پیدا کیدے شو

اَوَ اٰبَآؤُنَا الْاَوَّلُوْنَ ﴿۱۷﴾ قُلْ نَعَمْ وَاَنْتُمْ

او آیا پلاران زمونږ زاړه - ته اُوایه هاو او تاسو

دَاخِرُوْنَ ﴿۱۸﴾ فَاِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَّاحِدَةٌ فَاِذَا

به ذلیل یئ - نو یقیناً دا تیزه چغه ده یوه نو دغه وخت به

هُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۱۹﴾ وَقَالُوْا يٰوَيْلَنَا هٰذَا

دوی گوری - او وائی به هائے تباهی ده زمونږ دا

يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۲۰﴾ هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ

ورځ دَ جزا ده - (او به ویلے شی) دا ورځ دَ فیصلے ده

الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۲۱﴾ اُحْشُرُوا ع ۱ ۵

هغه چه تاسو هغه دروغ گڼړله - راجمعه کړئ (اے ملائکو)

۱۶ تا ۱۷ ۱۸ ۱۹ ۲۰ ۲۱ : په دے آیاتونو کښ زجر دے په انکار دَ
بعث بعد الموت سره - درے کرته ئے همزه دَ استفهام راوړے دے
دَ وجے دَ ډیر استبعاد نه - داخِرُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه دوباره ژوندا
کښ ستاسو اختیار نیشته بلکه ذلیل او عاجز به یئ امر دَ الله تعالیٰ ته - ینظرون
داعام دے یعنی یو بل ته به نظر کوی خپل حالت ته به گوری یا په معنیٰ
دَ انتظار دَ جزاء دے - یا نظر کنایه ده دَ ژوندی کیدلو نه - امام بقاعی
ویلی دی چه نظر ئے خاص کړو په ذکر سره چه نظر بغیر دَ حیات نه نه
موجودیږی او نور حواس کله کله بغیر دَ حیات نه هم موجودیږی لکه چه
اوریدل په مړو کښ په خرقِ عادت سره موجود شویدی په واقعه دَ بدر
کښ - دارنګ خطیب شربینی ویلی دی چه تابلس کښ یو ازغی داره او ته وه
هرکله چه دَ هغے په خوا کښ اوویلے شو چه لور راوړے چه داپریکړو نو دَ
هغے پانړے به مړاوے شوے - دا سے په دے ملک کښ هم یو بوټے دے
(... می ناپ) چه لاس ورته نزدے کړے نو پانړے ئے راغونډے شی
(والله علی کلّ شئ قدیر) - هٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ دا قول دَ منکرینو دے

الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا وَاَزْوَاجَهُمْ وَمَا كَانُوْا

هغه کسان چه ظلم یې کړې دے او دَ دوی ملګری او هغه کسان چه دوی یې

يَعْبُدُوْنَ ﴿٢٢﴾ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَاهْدُوْهُمْ

بندګی کوله سوا دَ الله تعالیٰ نه نو روان کړئ هغوی

اِلٰی صِرَاطِ الْجَحِيْمِ ﴿٢٣﴾ وَقِفُوْهُمْ اِنَّهُمْ

لارے دَ جهنم ته ۔ او اودروئ دوی یقیناً دَ دوی نه

مَسْئُوْلُوْنَ ﴿٢٤﴾ مَا لَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ ﴿٢٥﴾

تپوس کیدے شی ۔ څه وجه ده تاسو لره چه دَ یو بل سره مدد نه کوئ

بَلْ هُمُ الْيَوْمَ مُسْتَسْلِمُوْنَ ﴿٢٦﴾ وَاَقْبَلَ

بلکه دوی په نن ورځ تابعدار وی ۔ او مخامخ به شی

یو بل ته یا قول دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ ته ۔

فائده :- په دے آیا تو کښ دَ قیامت دوه نومونه ذکر کړے شول یوم الدین ۔ او یوم الفصل ۔ هرکله چه په تقسیم دَ جزاء او سزا سره جدا ئی راځي دَ دے وجے نه الدین یې دَ الفصل نه مخکښ ذکر کړو ۔

۲۲ ۲۳ ۲۴ ۲۵ ۲۶ :- په دے آیاتو کښ تخویف اخروی په پنځه حالاتو سره ذکر کړو ۔ حشر ۔ دَ جهنم لارے ته روانول ۔ حصار ول دَ تپوس دَ پاره ۔ یو بل سره نصرت نه کول ۔ ذلیل او متقادیدل په مجبورئ سره ۔

وَاَزْوَاجَهُمْ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه مشابه دی یو بل سره په نوعه دَ ظلم او ګناه کښ ۔ یعنی مشرک بالملائکه په دَ مشرک بالملائکه سره او بت پرست په دَ بت پرست سره او مشرک دَ ستورو دَ خپل مشابه سره او قبر پرست دَ قبر پرست سره او زانی دَ زانی سره او شرابی دَ شرابی سره او بدعتی دَ بدعتی سره به یوځائے کړے شی او دے ته په عام عرف کښ پیربابان ویلے کیږی ۔ وَمَا كَانُوْا يَعْبُدُوْنَ دَ دے نه مراد هغه پیران او ملایان دی چه عوامو دَ دوی طاعت کړے دے په شرک او بدعاتو او ګناهونو کښ او دوی پرے رضا وو لکه دوی چه مراد وو په سورة انبیاء ۹۸ کښ ۔

اُحْشُرُوْا امر دے دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ملائکو ته (پاتے په بل مخ)

يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۷﴾ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

بعض دَ دوی په بعضو باندے تپوس به کوی۔

قَالُوْٓا اِنَّكُمْ كُنْتُمْ تَاْتُوْنَنَا عَنِ الْيَمِيْنِ ﴿۲۸﴾

وائی په (کشران) یقیناً تاسو وئے چه راتلئ مونږ ته (په منع کولو سره) دَ (دین) حق نه۔

قَالُوْا بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۲۹﴾

او په وائی (مشران) بلکه نه وئے تاسو ایمان راوړونکی۔

وَمَا كَانَ لَنَا عَلَيْكُمْ مِّنْ سُلْطٰنٍ ۚ بَلْ

او نه وو مونږ لره په تاسو باندے هیڅ زور (دلیل) بلکه

وَقِفُوْهُمْ یعنی په لار دَ جهنم چه روان شی او لاړ یه دَ جهنم دَ پاسه پوُل وی (جسرِ جهنم) نو دَ هغے دَ پاسه به حصار کریشی۔ اِنَّهُمْ مَّسْئُوْلُوْنَ دا شامل دے تپوس کولو ته دَ بتولو گناهونو په باره کښې او دے ته حساب ویلے کیږی۔ مَالَكُمْ لَا تَنَاصَرُوْنَ دا هم داخل دے په تپوسونو کښې او دارد دے دَ دوی په دعویٰ باندے په دنیا کښې چه دا معبودان به زمونږ امداد کوی او دلته مراد دَ نصرت نه دَ عذاب نه بچ کول دی۔
۲۷ تا ۲۸ تا ۲۹ تا ۳۰ تا ۳۱ تا ۳۲۔ (ربط) هر کله چه معلومه شوه چه دوی به دَ تپوس دَ جواب نه چُپ وی نو وهم راځی چه آیا دوی به چاړا کان وی ژبے به ئے بندے وی؟ نو دَ دے وهم ازاله کوی چه دوی به یو بل لره ملامته کوی او په دے آیاتونو کښې تخویف اخروی دے په طریقه دَ براءت دَ الهو باطلو او دَ عابدانو دَ هغوی دَ یو بل نه په ورځ دَ قیامت کښې۔
الْيَمِيْنِ، دَ مجاهد نه نقل دے چه یمین دین حق او نیکو کارونو ته ویلے کیږی او تَاْتُوْنَنَا په معنیٰ دَ منع کولو دَ خیر نه دے او نفرت پیدا کول دَ هغے نه۔ او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے شوے دی چه یمین په معنیٰ دَ قسم سره دے یعنی تاسو به مونږ ته قسمونه کول چه شرک او کفر حق دے۔ بل قول دا دے چه یمین په معنیٰ دَ قوت او دَ قدرت سره دے یعنی تاسو به مونږ ته خپل زور او قوت ښکاره کوو په عُرسونو کولو او نور زیب و زینت سره۔ بَلْ لَّمْ تَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ یعنی تاسو دَ ابتداء نه بے ایمانه وئے نو مونږ څه رنگه تاسو دَ ایمان نه راواړولے۔

كُنْتُمْ قَوْمًا طٰغِيْنَ ﴿٣٠﴾ فَحَقَّ عَلَيْنَا

تاسو وئے قوم سرکشان۔ نو پوره شوے ده په مونږ باندے

قَوْلُ رَبِّنَآ ۖ اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ ﴿٣١﴾ فَاَغْوَيْنٰكُمْ

فیصله دَ رب زمونږ یقینًا مونږ څکونکی دَ عذاب یو۔ نو گمراهٔ ته مونږ راوبللئ تاسو

اِنَّا كُنَّا غٰوِيْنَ ﴿٣٢﴾ فَاِنَّهُمْ يَوْمَئِذٍ فِى الْعَذَابِ

ځکه چه مونږ گمراهان وو۔ نو یقینًا دوی به په دغه ورځ په عذاب کښ

مُشْتَرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَفْعَلُ

شریک دی۔ یقینًا مونږ داسے کار کوؤ

بِالْمُجْرِمِيْنَ ﴿٣٤﴾ اِنَّهُمْ كَانُوْٓا اِذَا قِيْلَ

دَ مجرمانو سره۔ یقینًا دوی وو چه کله به اُوریلے شو

سُلْطَانٍ په معنیٰ دَ حجت او دلیل دے یعنی مونږ تاسو ته هیڅ حجت او دلیل په شرک باندے نه دے پیش کړے یا مراد دَ سلطان نه زور او جبر کول دی.
طَاغِیْنَ مراد دَ طغیان نه بے حجّته کارونه کول دی۔ قَوْلُ رَبِّنَا تفسیر دَ هغے لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ دے او اِنَّا لَذَآئِقُوْنَ دَ قول نه بدل دے۔
فَاَغْوَيْنٰكُمْ۔ حاصل دا چه مونږ په تاسو زور نه دے کړے او نه هم درته دلیل پیش کړے صرف دعوت دَ گمراهۍ مو درته کړیے دے دَ دے دَپاره چه زمونږ ملګری دَ گمراهۍ ډیر شی نو تاسو زمونږ دعوت په خپله خوښه باندے قبول کړے دے او دا رنګ سورة قصص کښ او سورة سبا کښ هم تیر شوی دی۔
۳۳ ۳۴ :۔ هر کله چه ثابته شوه چه دواړه ډلے په غوایت کښ شریک دی نو لازمه ده چه په عذاب کښ به هم شریک وی۔
نَفْعَلُ په دے کښ اشاره ده چه په ورځ دَ قیامت یو بل لره ملامته کول دَ دوی او په گمراهۍ باندے اقرار کول او عذاب ورکول دا دَ ټولو مجرمانو سزا ده په یو قسم متبوعینو او تابعینو پورے تخصیص نیشته۔

لَهُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۳۵﴾ وَيَقُوْلُوْنَ

دوی ته ... نیشته حقدار د بندګۍ سوا د الله تعالیٰ نه نو دوی په لویۍ کوله . او دوی به ویل

اَئِنَّا لَتَارِكُوْٓا اٰلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُوْنٍ ﴿۳۶﴾

آیا مونږ ... پریګندو ... معبودان خپل د وجې د شاعر ... لیونی ته .

بَلْ جَآءَ بِالْحَقِّ وَصَدَّقَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۳۷﴾

بلکه ... راوړے دے حق ... او تصدیق یې کړے دے ... د رسولانو .

اِنَّكُمْ لَذَآئِقُوا الْعَذَابِ الْاَلِيْمِ ﴿۳۸﴾

یقینًا تاسو څاڅنا ... څکونکی ... د ... عذاب ... درد ناک یئ

وَمَا تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۳۹﴾

او بدله نشي درکیدے تاسو ته ... مګر د هغه عملونو چه تاسو کول .

ف۳۵ :- دا علّت د ماقبل عذاب دے او زجر دے په انکار د توحید سره . معلومه شوه چه مشرک د الله تعالیٰ نه او د هغهٔ د صفتونو او عبادتونو نه انکار نه کوی لیکن صرف د توحید نه انکار کوی لکه چه سورة اسراء ف۴۶ کښې تیر شویدی او سورة ص ف۵ او زمر ف۴۵ کښې به راشي.

ف۳۶ :- دا دویم علّت د عذاب دے او زجر دے په انکار د رسول صلّی الله علیه وسلّم او د هغهٔ په سپک والی سره چه شاعر دے او مجنون دے او دا خود دے خلقو حماقت دے ځکه چه مجنون خو شعرونه نشي جوړولے او دوی د دواړو صفتونو په جمع سره هغهٔ ته نسبت کوی .

ف۳۷ :- دا رد دے په دغه منکرینو باندے . د حَقِّ نه مراد توحید دے . او صَدَّقَ کښې اشاره ده چه توحید د ټولو انبیاء علیهم السلام یو دین دے نو د دے رسول نه انکار کول د ټولو رسولانو نه انکار کول دی .

ف۳۸ ف۳۹ :- دا تخویف دے او تفریع ده په تیر شوی دواړه علتونو باندے د دے وجے نه دویم آیت کښې اشاره او کړه چه د دے جزا سبب د دوی عملونه دی چه کوم مخکښې ذکر شول .

إِلَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿٤٠﴾ أُولٰٓئِكَ لَهُمْ
مګر بندګان دَ الله تعالیٰ چه ېچ ساتلی شوی دی. دغه کسان دوی لره

رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ ﴿٤١﴾ فَوَاكِهُ ۚ وَهُمْ مُّكْرَمُوْنَ ﴿٤٢﴾
روزی ده معلوم صفتونو والا میوې دی او دَ دوی به عزت کیږی پیئی

فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿٤٣﴾ عَلٰى سُرُرٍ مُّتَقٰبِلِيْنَ ﴿٤٤﴾
په جنتونو دَ نعمتونو کښې. په تختونو به دی یو بل ته مخامخ.

يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِكَأْسٍ مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿٤٥﴾
ګرځولی به شی په دوی باندې کاسې ډکې دَ خاص شرابو نه.

بَيْضَآءَ لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَا فِيْهَا
سپینی مزه ورکوونکی به وی څکونکو ته. نه به وی په هغې کښې

غَوْلٌ وَّلَا هُمْ عَنْهَا يُنْزَفُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَعِنْدَهُمْ
آفتونه او نه به دوی له دَ هغې (شرابو) نه اُلټې ورځي. او دوی سره به دی

سلا:. دا استثناء ده إِنَّكُمْ لَذَآئِقُوْنَ نه او ظاهره دا ده چه استثناء منقطع ده. الْمُخْلَصِيْنَ نه مراد هغه کسان دی چه الله تعالیٰ خالص کړې او غوره کړې دی دَ توحید او دَ دین او دَ دوستلې دَ ګان دَپاره.
دَ سلا نه تر سلا۴۹ پورې په دې آیاتونو کښې بشارت ذکر کوی په څوارلس انعاماتو خاصو سره. مَّعْلُوْمٌ دلته یو سوال دې چه سورة الم سجده سلا کښې اخفی لهم من قرة اعین تیر شوی دې هغه دلالت کوی چه دَ جنت نعمتونه هیچا ته نه دی معلوم او دلته فرمائي رِزْقٌ مَّعْلُوْمٌ؟ جواب دا دې چه معلوم دی بعض صفتونه دَ هغې چه همیشه دی او بُكْرَةً وعشيًّا دی او تفصیلی حقیقت یې نه دې معلوم. فَوَاكِهُ دا بیان دَ رزق دې نو معلومه شوه چه رزق دَ جنت ټول دَ لذت او دَ مزې دَپاره دې دَ لوږې دَ وجې نه نه دې مُكْرَمُوْنَ عزت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په رفع دَ درجاتو سره او په دیدار دَ الله تعالیٰ او په کلام دَ الله تعالیٰ سره دې.
مُتَقٰبِلِيْنَ یعنی دَ یو بل شا به نه وینی کنایه ده چه دَ یو بل نه به نه خفه کیږی. یا مراد دا دې چه دا تختونه به چاپیره ګرځي ریاتے په بل مخ)

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ عِیْنٌ ﴿۴۸﴾ كَاَنَّهُنَّ بَیْضٌ

(ښځې) بند لرونکی به وی نظر خپل لره خاوندانو ته خائسته سترگو والا به وی گویا دوی لکه

مَّكْنُوْنٌ ﴿۴۹﴾ فَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

پټې ساتلې شوی دی. نو مخامخ به شی بعض د دوی په بعضو باندې

یَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۵۰﴾ قَالَ قَآئِلٌ مِّنْهُمْ اِنِّیْ

تپوسونه به کوی. اوبه وائی یو ویونکی د دوی نه یقینًا

كَانَ لِیْ قَرِیْنٌ ﴿۵۱﴾ یَّقُوْلُ اَئِنَّكَ

وو ما لره یو ملگرے هغه به ویل چه ایا ته

تو یو بل ته به تشا ته کرئ. كَأْسٍ هر کله چه ډک وی د شرابو نه نو کاس ورته ویلے کیږی او چه خالی وی نو کاس ورته نه ویلے کیږی.
مَّعِیْنٍ د معن نه دے جاری ته ویلے کیږی یا د عین نه دے یعنی په سترگو به ښکاریږی. لِذَّةٍ په معنیٰ د لذیذة دے او هرچه شراب د دنیا دی نو کریه او بد مزه وی. غَوْلٌ پټ ضرر ته ویلے کیږی نو دا شامل دے درد سر او درد د خیټې او نورو مرضونو ته. وَلَا هُمْ یُنْزَفُوْنَ په معنیٰ د فساد د عقل دے په سبب د نشه کیدلو سره او دا تخصیص بعد التعمیم دے ځکه چه لفظ غَوْلٌ هم نشې ته شامل دے او نشه کیدل لوئے آفت دے.
قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ دا د زنانو بهترین صفت دے په دنیا او آخرت کښې چه د خاوندانو نه علاوه بل چا ته سترگې نه اړوی. عِیْنٌ خائسته سترگو والا یعنی چه غټې وی په اندازے سره او سپین والے د هغې ښه سپین وی او تور والے د هغې ښه تور وی. بَیْضٌ مَّكْنُوْنٌ مراد د دے نه لکه د شترمرغ ده چه پټه وی د چیړو او د غبار نه او مائله وی زیړوالی ته یا مراد د دے نه هغه لکه ده چه روغه او نیشولے شی او بیا ترینه د پاسه پوست لرے کړیشی نو لا نور صفا سپین وی. یا مراد دے نه مطلق لکه ده چه پټه ساتلے شوی وی او د زنانو تشبیه د هغې سره په تناسب د اجزاؤ کښې ورکیدے شی. تر دے ځائے پورے نعمتونه د خوراک او د رهائش او څکاک او د بیبیانو په باره کښې ذکر شول.
د سته نه تر ۶۱ پورے دا هم په بشارت کښې داخل دے ځکه چه عذاب په دشمن باندے او بچ کیدل د سبب د عذاب ته لوے نعمت دے.

لَمِنَ الْمُصَدِّقِيْنَ ﴿۵۲﴾ ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا

خامخا ستونکو نه یې (د توحید او د قیامت) . آیا چه مړه شو مونږ او شو مونږ

تُرَابًا وَّعِظَامًا ءَاِنَّا لَمَدِيْنُوْنَ ﴿۵۳﴾ قَالَ

خاورے او هډوکی آیا مونږ له به جزا راکیدے شی . او به وائی

هَلْ اَنْتُمْ مُّطَّلِعُوْنَ ﴿۵۴﴾ فَاطَّلَعَ فَرَاٰهُ

آیا تاسو یئے ودبنکاره کیدونکی . نو ښکاره به شی نو اوبه وینی هغه لره

فِيْ سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۵۵﴾ قَالَ تَاللّٰهِ اِنْ كِدْتَّ

په مینځ د دوزخ کښ . ورته به وائی قسم دے په الله تعالی باندے یقینًا نزدے وے ته

لَتُرْدِيْنِ ﴿۵۶﴾ وَلَوْلَا نِعْمَةُ رَبِّيْ لَكُنْتُ

چه زهٔ دے ارغړولے وے او که نه وے احسان د رب زما خامخا زه به وے

مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۵۷﴾ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ ﴿۵۸﴾

د حاضر کړے شوو نه په عذاب کښ . آیا نه یو مونږ مړهٔ کیدونکی .

اِلَّا مَوْتَتَنَا الْاُوْلٰى وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِيْنَ ﴿۵۹﴾

مګر مرګ زمونږ دے پدمیے . او نه یو مونږ عذاب راکړے شوی

فَاَقْبَلَ دوی خو یو بل ته مخامخ دی ځکه چه متقابلین ویلے شوے دی لیکن دَدے اقبال نه مراد په دے تساؤل کښ شروع کول دی۔

قَرِيْنٌ دَدے نه مراد مقابله کوونکے دے یو عمر والا همزولے ځکه چه قرین په اصل کښ یو قرن والا ته ویلے کیږی۔ سَوَآءِ په معنیٰ دَ وسط دے ځکه چه هغه ته ټول طرفونه برابروی۔ نِعْمَةُ رَبِّيْ مراد دَ دے نه بچ کول دی دَ شرک او دَ انکار دَ قیامت نه او مضبوط والے دے په ایمان باندے۔

الْمُحْضَرِيْنَ احضار په شر کښ استعمالیږی۔ اَفَمَا نَحْنُ بِمَيِّتِيْنَ هر کله چه سبب دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه ذکر کړو نو اوس بچ کیدل دَ عذاب نه (چه هغه مسبّب دے) ذکر کوی۔ همزه دَ استفهام داخل دے په فاء عاطفه باندے نو معطوف علیه محذوف دے انحن مخلدون منعمون فما نحن بمیتین او استفهام تقریری دے۔ (رباتی په بل مخ)

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٠﴾ لِمِثْلِ هَٰذَا

یقیناً دا خامخا کامیابي لویه ده - دَپاره دَ دغې جزا،

فَلْيَعْمَلِ ٱلْعَٰمِلُونَ ﴿٦١﴾ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا

پس عمل دِ کوي عمل کوونکي - آیا دا غوره دي په میلمستیا کښ

أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَٰهَا فِتْنَةً

او که اُونه دَ زقوم - یقیناً گرځولے ده مونږ هغه امتحان

لِّلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ

دَپاره دَ ظالمانو - یقیناً هغه اُونه ده چه را اوځي

فِىٓ أَصْلِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ

په ویخ دَ دوزخ کښ خلگے دَ هغې گویاکے چه

إِلَّا مَوْتَتَنَا ٱلْأُولَىٰ استثناء منقطع ده یعنی اول مرگ زمونږ وو په دنیا کښ لکه
سورة دخان ۵۶ کښ دي - إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ اه دا قول دَ الله تعالیٰ
دے دنیاوالو ته دَپاره دَ ترغیب ورکولو۔ یا قول دَ جنتي دے په طریقه دَ
تحدیث نعمت سره۔ لِمِثْلِ هَٰذَا یعنی دَ دنیا دَ مقصدونو او شهواتو دَپاره محنت
نه دے پکار بلکه دَ جنّت دَ نعمتونو دَ حصول دَپاره کړاؤ ضروري دے۔
دَ ۶۲ نه تر ۶۸ پورے په دے آیاتونو کښ تخویف اخروي دے نُزُلًا هغه غِذاء
ته ویلے کیږي چه صالح وي چه خلق دَ هغې دَپاره نازل شي او دیره شي او دا هغه
خوراک دے چه تیاریږي دَپاره دَ نازل (میلمه)۔ فِتْنَةً په معنیٰ دَ عذاب او
دَ محنت دے یا په معنیٰ دَ امتحان او دَ ابتلاء دے یعنی هرکله چه مشرکانو
دا واوریدل چه په جهنم کښ اُونه ده نو هغوی مسخره شورو کړه چه په
اور کښ خنګه اُونه کیدے شي۔ طَلْعُهَا طلع په کجوره کښ هغه شے دے
چه اوّل ښکاره شي بیا ترے غنچک جوړ شي۔
كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ مراد دَ دے نه سرکش ماران دي چه هیبت ناک شکلونه
لري یا مراد دَ دے نه ابلیس او دَ هغه اولاد دي او هغوي اگرچه په اصل
صورت او شکل انسانانو لیدلے نه دي لیکن په عرف کښ مشهور دي په
بد شکلے سره لکه راغلے دي یو مثل کښ چه یو بوډۍ دَیو زړکرته (مصوّن)

رُءُوْسُ الشَّيٰطِيْنِ ﴿۶۵﴾ فَاِنَّهُمْ لَاٰكِلُوْنَ

سرونه دَ شیطانانو دی ۔ نو یقینًا دوی به خامخا خوری

مِنْهَا فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿۶۶﴾ ثُمَّ

دَ هغې نه نو دکوی به دَ هغې نه خیټې ۔ بیا به

اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۶۷﴾

یقینًا دوی لره دَ هغې دپاسه ګډون دی دَ خوټکیدلو اوبو نه ۔

ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ لَاِلَى الْجَحِيْمِ ﴿۶۸﴾

بیا به یقینًا واپس کیدل دَ دوی خامخا دوزخ دَ اور ته دی ۔

نه مطالبه اوکړه چه ماله دَ شیطان شکل جوړکړه نوهغه ورته اویل چه ماله نمونه راوړه ماخوشیطان نه دے لیدلے نوهغې یوړے جاحظ عالم (مشهوراهل لغت ادیب معتزلی وو) راوسته راوهغه ډیر بدصورته وو) نوزرګرته یې اویل چه دَدهٔ په مثل ماله شیطان جوړکړه. نو دا تشبیه دَ وجې دَ شهرت نه ده لکه تشبیه دَ حُسن دَ پاره دَ ښاپیرو سره ورکیږی اګرچه ښاپیری چانه دی لیدلی دارنګ دَ یوسف علیه السّلام تشبیه دَ مَلَك سره ورکړے شوے وه اګرچه مَلَك هغه زنانو لیدلے نه وو۔

فَمَالِـُٔوْنَ اشاره ده چه دا خوراک دَ مړه ولو فائده نه ورکوی لیکن صرف خیټه به ډکه وی اودَ ډکے خیټې نه ډیر تکلیفونه او مرضونه پیدا کیږی بیا هر کله چه دَ خوراک سره ډکیدل دَ خیټې متصل دی نو فاء یې ذکر کړے دے اوهر کله چه اوبه څکل دَ خوراک سره متصل ضروری نه دی نو په ثُمَّ سره یې ذکر کړه ثُمَّ اِنَّ لَهُمْ عَلَيْهَا لَشَوْبًا مِّنْ حَمِيْمٍ یعنی دَاوبو ګرموالے اودَ اونې تریخوالے به دواړه ګډ شی. یا دا چه دا اوبه به دَ وینو زوؤ دَ جهنمیانو سره ګډے کړے شی. ثُمَّ اِنَّ مَرْجِعَهُمْ هر کله چه دَخوراک او څکاک طبقه په جهنّم کښې جدا ده او په اور سره دَ سوزیدلو طبقه (جحیم) جدا ده نو دَ دے وجې نه یې او فرمائیل چه روستو دَخوراک اوڅکاک نه دَ دوی واپسی جحیم ته ده۔

إِنَّهُمْ أَلْفَوْا آبَاءَهُمْ ضَالِّينَ ﴿٦٩﴾ فَهُمْ

یقیناً دوی موندلے وو مشران خپل گمراهان نو دوی په

عَلَىٰ آثَارِهِمْ يُهْرَعُونَ ﴿٧٠﴾ وَلَقَدْ ضَلَّ

دَ هغوی په قدمونو پاندے زغلیدلے شول. او یقیناً گمراه شوے وو

قَبْلَهُمْ أَكْثَرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٧١﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

دَ دوی نه مخکښ ډیر دَ زړو خلقو نه او یقیناً لیږلے وو مونږ

فِيهِمْ مُنْذِرِينَ ﴿٧٢﴾ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ

په هغوی کښ ویره ورکوونکی. نو اوګوره چه څه رنګے شو

عَاقِبَةُ الْمُنْذَرِينَ ﴿٧٣﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ

آخری انجام دَ ویره ورکړے شوو. مګر بندګان دَ الله تعالٰی

الْمُخْلَصِينَ ﴿٧٤﴾ وَلَقَدْ نَادَانَا نُوحٌ فَلَنِعْمَ ع

چه خالص کړے شوے دی. او یقیناً آواز راکړے وو مونږ ته نوح علیه السّلام نو ډیر ښهٔ

س۶۹ ت۷۰ :- په دے آیاتو کښ سبب ذکر کوی دَ عذابِ سابق چه هغه تقلید دَ ګمراهانو دے بغیر دَ غور او فکر او دلیل نه. يُهْرَعُونَ دا مجهول دے په معنیٰ دَ معلوم سره لیکن مجهول ئے په دے وجه ذکر کړے دے چه ګویا که چه دَ دوی زغلونکے دَ دوی جهل او خواهش دے.

س۷۱ س۷۲ س۷۳ س۷۴ :- دا تخویف دنیوی دے منکرینو ته په عذابونو دَ تیرشوے مکذبینو سره او تسلّی ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته په راتللو دَ عذاب سره په مخالفینو باندے او نجات موندلو دَ مؤحدینو سره.

إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ دا استثناء ده دَ منذرین نه استثناء متصل ده یا دَ اولین استثناء منقطع ده.

الْمُجِيبُونَ ﴿۷۵﴾ وَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥ مِنَ الْكَرْبِ

جواب ورکوونکی دو - او خلاص کړو مونږ دے او کورنۍ دده ۂ ذ غم

الْعَظِيمِ ﴿۷۶﴾ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ الْبَٰقِينَ ﴿۷۷﴾

لوے نه - او اوګرځوو مونږ اولاد دده باقی په دنیا کښ -

۷۵ دَ دے ایت نه تر ۱۴۹ پورے دویم باب دے په دے کښ حالات دَ اوۀ پیغمبرانو ذکر کوی چه دوی محتاج وو الله تعالیٰ ته او دَ هغهٔ بندګان وو لفظ دَ نَا ضمیرجمع متکلم (چه مراد تری الله تعالیٰ دے) دَ دوی په واقعاتو کښ ذکر کوی اشاره ده چه دوی په دغه حالاتو کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔ هغه انبیاء علیهم السّلام نوح، ابراهیم، موسیٰ اوهارون، الیاس لوط او یونس علیهم السّلام وو۔ او ربط دَ دے دَ المخلصین سره دے چه هغه پیغمبران او دَ هغوی تابعداران وو۔ نَادٰنَا، مراد دَ دے نه دُعاګانے دَ نوح علیه السلام دی چه په سورة نوح کښ تفصیلاً ذکر شویدی۔

فَلَنِعْمَ فاء دلالت کوی په دغه دعا په ډیر اخلاص او تضرع سره چه سبب دَ اجابت وؤ۔

۷۶:- دا دَ اجابت دَ دعا بوه طریقه ده چه دَ غرق نه بچ کیدل دی یعنی په دے نعمت کښ الله تعالیٰ ته محتاج وو۔

الْكَرْبِ الْعَظِيمِ غرق کیدل دَ ټول قوم لوئے واره دا غټ غم دے یا مراد دَ دے نه عذاب دَ ورځ دَقیامت دے۔

۷۷:- دا بل انعام دے په نوح علیه السلام باندے چه په دے کښ هم هغه الله تعالیٰ ته محتاج وؤ مراد دَ دے دا دے چه دَ نوح علیه السّلام نه روستو ټولے دنیا والا اولاد دَ دهٔ دی او په دے کښ اشاره ده چه په کشتۍ کښ صرف دَ دهٔ اولاد وؤ او نور خلق ټول غرق شول۔ او دا رنګ سورة یونس ۷۳ کښ تیر شویدی۔ مفسرینو لیکلی دی چه دَ دهٔ درے ځامن بچ شول حام، سام، یافث، نو دَ حام اولاد سند، هند، نوب، زنج، حبش او قبط او بر بر وغیره دی او دَ سام اولاد عرب، فارس او روم او بنی اسرائیل وغیره دی او دَ یافث اولاد۔ ترک صقلب یاجوج ماجوج چین وغیره دی۔

وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ فِي الْاٰخِرِيْنَ ﴿۷۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰى

او پریخودلے دے مونږ په ده باندے په روستو خلقو کښ. سلام دے په

نُوْحٍ فِي الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۹﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي

نوح علیه السّلام باندے په عالمو کښ. یقینًا مونږ دغه شان بدله ورکوو

الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۸۰﴾ اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۸۱﴾

خائسته عمل کوونکو ته. یقینًا دے دَ بندګانو زمونږ نه وو چه مؤمنان دی.

ثُمَّ اَغْرَقْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۸۲﴾ وَاِنَّ مِنْ

بیا غرق کړل مونږ روستنی خلق. او یقینًا دَ

شِيْعَتِهٖ لَاِبْرٰهِيْمَ ﴿۸۳﴾ اِذْ جَآءَ رَبَّهٗ بِقَلْبٍ

هغه دلے نه خامخا ابراهیم علیه السّلام وو. کله چه راغے خپل رب ته په زړه

۷۸ ۷۹ ۸۰ ۸۱ ۸۲ په دے کښ نور انعامات ذکر کړے شوے دی. ترکنا دَ دے مفعول حذف دے یعنی الثناء الحسن والذکر الجمیل. سَلٰمٌ دَ دے مفعول حذف دے او معنیٰ دَ سلام داده چه دَ ده ذکر نه یے او سالم دے په روستو خلقو کښ او په دے کښ هم تقدیر دے یعنی سَلٰمٌ مِّنَّا یعنی دا سلامتیا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ده. الْعٰلَمِيْنَ مراد دَ دے نه ملائک او جن او انس دی. اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ په دے کښ اشاره ده تسلّی دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او دلیل دے چه سبب دَ دے انعاماتو احسان دَ نوح علیه السلام دے او احسان نه مراد دعوت الی الحق دے په اخلاص سره. اِنَّهٗ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ دا هم تفسیر دَ احسان دے او تصریح ده چه نوح علیه السّلام دَ الله تعالیٰ دَ خاص بندګانو نه یو خاص بنده وو او محتاج وو.

۸۳:- دا دویمه واقعه ده دَ ابراهیم علیه السلام او دلیل نقلی دے په دے کښ ذکر دَ عبدیت دَ ابراهیم السلام ذکر کوی په دوه طریقو سره، اول مجاهده کول په دعوت دَ توحید کښ او په مصیبتونو باندے صبر کول دویم دَ الله تعالیٰ په امر سره خپل ځوئے قربانی کول. او ذکر کوی احتیاج دده الله تعالیٰ ته په سلامتیا او بشارت او برکاتو کښ چه دے الله تعالیٰ ته محتاج وو. شِيْعَتِهٖ یعنی ابراهیم علیه السلام په مجاهده کولو کښ دَ توحید دَ دعوت دَ پاره دَ ډلے دَ نوح علیه السلام نه وو یعنی دَ هغه پشان وو.

سَلِيْمٍ ﴿۸۴﴾ اِذْ قَالَ لِاَبِيْهِ وَقَوْمِهٖ مَاذَا
روغ موښ . کله چه اُوئيل ئے پلار خپل او قوم خپل ته دَ څه څيز دَ تو
تَعْبُدُوْنَ ﴿۸۵﴾ اَئِفْكًا اٰلِهَةً دُوْنَ اللّٰهِ
عبادت کوئے تاسو . آيا دروغ معبودان سوا دَ الله تعالیٰ نه
تُرِيْدُوْنَ ﴿۸۶﴾ فَمَا ظَنُّكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۷﴾
غواړئے تاسو . نو څه گمان دے ستاسو په رب دَ عالمينو باندے .

۸۴: دا بيان دَ تابعدارئے دَ ده دے جَآءَ رَبَّهٗ دَ دے نه مراد توجه کول دی رب ته په دعوت کولو سره توحيد ته . سَلِيْمٍ خالی دَ شرک نه او دَ شبهاتو دَ شرک نه او دَ ميلان کولو نه مشرکانو ته . مخلص په دعوت کولو کښ . ويره کوونکے دَ الله تعالیٰ نه چه رپيږی دَ ويرے دَ وجے نه لکه چه انسان او چيچلے شی او رپيږی ردا تول احتمالونه دی) .

۸۵: مَاذَا مراد دَ دے نه تپوس کول دَ دليل دَ شرک دی او طلب دَ وصف دَ معبوديت دے دَ دوی په معبودانو باطلو کښ لکه چه سورة مريم ۴۲ کښ تير شوی دی .

۸۶: هر کله چه هغوی عاجز دی دَ ذکر دَ دليل نه او دَ اثبات دَ وصف دَ معبوديت دَ هغوی نه نو ابراهيم عليه السلام ورته دا اوئيل اَئِفْكًا اٰلِهَةً په دے عبارت کښ اول ترکيب دا دے . تريدون فعل دے دون الله ظرف دے او اٰلِهَةً مفعول به دے افكًا مفعول له دے . معمولات ئے په عامل باندے دَ اهتمام دَ وجے نه مخکښ کړے دی او مفعول له کښ تصريح ده په بُطلان دَ طريقے دَ دوی نو هغه ئے په سر کښ ذکر کړو . دويم ترکيب دا دے افكًا مفعول به دے مبدل منه ، اٰلِهَةً دَ هغے نه بدل دے په طريقه دَ مبالغے سره . دريم دا دے چه اٰلِهَةً مفعول به دے او اَئِفْكًا په معنیٰ دَ آفکين سره حال دے دَ مفعول نه . افک په اصل کښ اوړيدلو ته وائی يعنی هغه سخت دروغ چه دَ حقيقت نه بالکل خلاف وی .

۸۷: زجر دے په شرک باندے دليله په دے کښ توجيهات دی اوله دا ده آيا تاسو گمان کوئے چه الله تعالیٰ دے عاجز مخلوق لره دَ ځان سره شريک کړے دی . دويمه توجيه دا ده آيا تاسو گمان کوئے چه الله تعالیٰ دَ جنس دَ مخلوق نه دے چه تاسو دَ هغه تشبيه ورکوئے دَ مخلوق سره . (پاتے په بل مخ)

فَنَظَرَ نَظْرَةً فِی النُّجُوْمِ ﴿٨٨﴾ فَقَالَ اِنِّیْ
نو نظر یې اوکړه یو نظر په ستورو کښې نو اُوئیل یې یقیناً زه

سَقِیْمٌ ﴿٨٩﴾ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِیْنَ ﴿٩٠﴾
ناجوړه یم - نو روان شول دوی د هغه نه شاګرځوونکی -

دریم توجیه په طریقه د تخویف سره یعنی تاسو په الله تعالیٰ باندے څهٔ ګمان کوئ چه په حالت د شرک کښې مرهٔ شئ او هغه ته په پیش شئ.
۸۸ سوره ۸۹ . مراد دا دے چه په رد د شرک د هغوی کښې استدلال یې اوکړو یوځل استدلال د ستورونه او تفصیل د هغې په سورة انعام ۷۶ کښې تیر شوے دے بیا یې اوئیل زه بیمار یم یعنی زړهٔ م خفه دے ستاسو د شرک د وجے نه.
یا مراد دا دے چه دوی ورته دعوت ورکړو چه زمونږ د الهوٴ عرس دے مونږ سره لاړ شه چه زمونږ اثر قبول کړے نو هغه د دوی د خبرو او د کارونو په مختلفو حصو کښې فکر او چلوهٔ د پاره د دے چه ځان ترینه په څه بهانه سره پاتے کړی نو اوئیل یې چه اِنِّیْ سَقِیْم . یا مراد دا دے چه ستورو ته یې اوکتل په اراده د دے چه د الله تعالیٰ د قدرت نمونے دی لیکن دوی خیال اوکړو چه ابراهیم زمونږ په طریقے سره ستورو ته کتلے دی. بنا په روستو توجیه سره دا توریه عملی ده او اِنِّیْ سَقِیْم توریه قولی ده . مراد د توریے دا دے چه " متکلم یو خبره اوکړی او صحیح معنیٰ ترینه په خپله ارادے سره مقصود کړی لیکن مخاطب د هغې نه بله معنیٰ اراده کړی".
نو دلته هم سقیم نه ابراهیم علیه السّلام خفګان د زړه مراد کړے دے یا په معنیٰ سأسقم (زر دے چه بیمار به شم) او هر انسان ضرور بیماریږی نو دا رښتیا ده او هغهٔ قوم دا مراد وا غستلو چه د دهٔ بدن بیمار دے او دوی به د هرے بیمارے نه نفرت کوو نو د دے وجے هغه ته یې شا کړے اوګرځولے او روان شول . (سوال) که څوک اوائی چه په حدیث صحیح کښې دے لفظ سقیم ته کذب ویلے شویدی او حال دا دے چه انبیاء علیهم السّلام خو د ګناهونو نه پاک دی ؟
اول جواب دا دے چه کذب په معنیٰ د توریے سره دے یعنی هر کله چه دا معنیٰ د هغوی د مراد نه مخالف وه نو د دے وجے نه مجازاً یې ورته کذب اوئیل . دویم جواب دا دے چه مفسر رازی ویلے دی چه اطلاق د کذب

فَرَاغَ اِلٰٓى اٰلِهَتِهِمْ فَقَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۹۱﴾

نو پټ راغې دَ دوی په معبودانو پسې نو اُوئيل يې آيا نه خورئ تاسو .

مَا لَكُمْ لَا تَنْطِقُوْنَ ﴿۹۲﴾ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ

څه وجه ده تاسو لره چه خبرې هم نه کوئ . نو شروع شو په ځغلو

ضَرْبًا بِالْيَمِيْنِ ﴿۹۳﴾ فَاَقْبَلُوْٓا اِلَيْهِ

په وهلو سره په حق لاس باندې . نو مخامخ شو هغه خلق دده طرف ته

يَزِفُّوْنَ ﴿۹۴﴾ قَالَ اَتَعْبُدُوْنَ مَا تَنْحِتُوْنَ ﴿۹۵﴾

منډې وهلې . اُوئيل يې آيا بندګي کوئ تاسو دَ هغه څيزونو چه په لاسو تراشل کړئ

راوی دَ ځان نه جوړکړے دے په طريقه دَ روايت بالمعنیٰ سره ځکه چه نسبت کول دَ خطائې روايت کوونکی ته غوره دی دَ نسبت کولو دَ دروغو ويلو ته ابراهيم عليه السّلام ته .

سلا سلا:- دا ذکر دَ مجاهدے کولو دَ ابراهيم عليه السّلام دے دَپاره دَ رد دَ شرک .

رَاغَ پټ راتللو دَپاره دا لفظ استعماليږی، دے هم دَ قوم نه پټ راغے . او هغه قوم دَ دے اِلهو په وړاندے خوراکونه کيښودل دَپاره دَ دے چه برکت پکښ پيدا شی بيا به يې لګ دَ هغې نه دَ تبرک دَپاره ځان له راوړو او باقی به يې مجورانو ته پريښودو نو ابراهيم عليه السلام په دے خطابونوکښ دا خبره ثابته کړه چه دوی خوراک او خبرے نشی کولے نو دوی دَ عبادت لائق نه دی او دا خطابونه اګرچه بتانو ته دی ليکن الزام دے په دغه مشرکانو باندے رويلے کيږی يو ته اوروے کيږی بل ته) دا مثل دے .

سلا:- هرکله چه په وهلوکښ معنیٰ دَ ضرر ده دَ دے وجے نه يې دلته دَ فَرَاغَ په صله کښ علیٰ ذکرکړو . بِالْيَمِيْنِ نه ښے لاس مراد دے ځکه چه په هغې کښ قوت ډيروی يا قسم مراد دے هغه چه سورة انبياء سلا کښ ذکر دے او باء سببيه ده . يا عدل ته يې ويلے دے يعنی هغه عدل (توحيد) چه بيعت يې کړے وُو دَ الله تعالیٰ سره په ورځ دَ ميثاق کښ .

سلا:- يَزِفُّوْنَ په تيزے سره راتلل په ابراهيم عليه السلام پسے روستو دَ خبريدلو دَ دوی په دے واقعه باندے . يا مراد دا دے چه په تکبر سره راتلل دَ زفاف دَ ناوے نه ماخوذ دے .

سلا سلا:- دا رد دے دَ هغوی په شرک باندے په دوه طريقو سره ريا ته په بل مخ)

وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۶﴾ قَالُوا ابْنُوْا لَهٗ

او الله تعالىٰ پیدا کړی یئ تاسو او ستاسو عملونه - اُویل دوی جوړکړئ دده دپاره

بُنْيَانًا فَاَلْقُوْهُ فِى الْجَحِيْمِ ﴿۹۷﴾ فَاَرَادُوْا بِهٖ

آبادی نو اوغورځوئ دهٔ لره په اُور کښ - نو او غوښتلو دوی (چه اوکړی) ده سره

كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْاَسْفَلِيْنَ ﴿۹۸﴾ وَقَالَ اِنِّىْ

چل ول نو اوګرځول مونږ دوی ذلیلان - اُویل هغه یقیناً زه

اوله طریقه تَنْحِتُوْنَ یعنی تاسو دا بُتان دَ لرګو اوګټو وغیره نه په خپلو لاسو نو جوړکړیږی نو هغه دَ عبادت حق دار نشی کیدے او په دے کښ هغه قبرونه هم داخل دی چه په چونه او سیمټو سره پاخه کړے شوے وی او دولی کړے شوے وی او بیا ورته سجدے لګوی او حاجات ترینه غواړی.

دویمه طریقه وَمَا تَعْمَلُوْنَ یعنی ستاسو او ستاسو دَ عملونو خالق صرف الله تعالىٰ دے او په دے کښ دا معبودان باطله او دَ هغوی بندګی کول هم داخل دی.

او دا دلیل دَ اهلِ سنت والجماعة دے په دے عقیده باندے چه الله تعالىٰ خالق دَ هر عمل دے که خیر وی او که شر وی او اختیاری وی او که غیراختیاری وی دَ دے وجے نه اضلال او هدایت او دَ ختم او طبع نسبت الله تعالىٰ ته په حقیقت باندے کیږی او اعمالو اختیاریو کښ کسب دَ بنده لره دخل شته دے حساب دَ بنده سره دَ هغهٔ دَ کسب دَ وجے نه کیږی او قدریه معتزله وائی چه افعال اختیاری دَ بندګانو، مخلوق دَ بندګانو دے نو دوی دَ الله تعالىٰ سره په صفت دَ خلق کښ شریک جوړ کړو او جبریه وائی چه دَ انسان کسب لره هیڅ دخل نیشته مجبورِ محض دے او حال دا دے چه په مینځ دَ ګټے او دَ انسان ژوندی کښ او هم دا سے په مینځ دَ روغ لاس او ګوزن والی لاس کښ فرق تمام اهلِ عقل منی نو دَ دوی دا قول دَ عقل نه هم خلاف دے.

۹۷ تا ۹۸:- هرکله چه دَ دوی سره دلیل نۀ وو په شرک باندے نو دَ ظلم لار یې اختیار کړه او مشوره یې او کړه چه یو لویه آبادی (دَ تنور په شکل باندے) جوړه کړئ، نو هغه یې جوړه کړه او دَ خاشاک نه یې ډکه کړه او اور یې پکښ بل کړو او ابراهیم علیه السلام یې پکښ اوغورځوۀ او دے ته لے کارنامے ته یې کَیْدًا اوویل لیکن هرکله چه په

ذَاهِبٌ اِلٰى رَبِّىْ سَيَهْدِيْنِ ﴿۹۹﴾ رَبِّ هَبْ لِىْ

ځمه طرف د رب خپل ته خامخا ماته لار اوخائي. اے ربه زما اوبخه ماته زوئے

مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۱۰۰﴾ فَبَشَّرْنٰهُ بِغُلٰمٍ حَلِيْمٍ ﴿۱۰۱﴾

د نیکانو ته. نو زیرے ورکړو مونږ هغه ته په هلک صبرناک سره

فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْىَ قَالَ يٰبُنَىَّ اِنِّىْٓ

نو هرکله چه اورسیدلو د هغه سره کار کولو ته اوویل هغه اے ځویه زما یقینًا زه

اَرٰى فِى الْمَنَامِ اَنِّىْٓ اَذْبَحُكَ فَانْظُرْ مَاذَا

وینم په خوب کښ چه ذبح کوم تا نو سوچ اوکړه چه څه

تَرٰى ؕ قَالَ يٰٓاَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِىْٓ

رائے لرے، هغه اُویل اے پلاره زما اوکړه هغه چه تاته څه حکم کیږی. زر دے او به مومے ته ما لره

دلیل هم ذوی پرې شول او اوریئے بے اثره شو ددے وجے نه ئے اوویل الاَسْفَلِيْنَ
او هرکله چه مال او خشاک او وخت یئے بے فائدے شول نو دیته ئے په سورة
انبیاء ۷۰ کښ الاخسرین ویلے وو.

۹۹:- په دے کښ دوه اقوال دی اول دا چه اور ته ئے بوتللو نو دا کلمه ئے
اوویله نو معنیٰ دا ده "زه روان یم هغه ځائے ته چه رب زما مقرر کړے دے
زر دے چه ما لره په طریقه د نجات جوړه کړی". دویم قول دا دے چه
روستو د بچ کیدلو د اور نه عزم د هجرت ئے اوکړو او په سورة عنکبوت
۲۶ کښ هم د دے تائید دے او الیٰ ربّی کښ الیٰ په معنیٰ د لام
دے د پاره د رضا د رب یا په معنیٰ د هغه ځائے چه امر کوی ما ته
رب زما. مفسرین وائی چه اول هجرت د رب د پاره ابراهیم علیه السّلام
کړے دے او هجرت ئے کړے وو ملک شام ته.

۱۰۰ ۱۰۱:- هرکله چه د دین د بقا د پاره د اولاد ضرورت دے چه د دین
دعوت جاری او ساتلے شی د دے وجے نه د ځوئی په باره کښ ئے دُعا
اوغوښتله او هغه دعا قبوله شوه او لفظ حَلِيْمٍ کښ اشاره ده چه دے
به بلوغ ته وررسیږی ځکه چه صفت د صبر د بالغانو په مدح کښ
ویلے کیږی.

إِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۱۰۲﴾ فَلَمَّا

که چیرے اللہ تعالیٰ اوغواړی دَ صبر ناکو نه - نو هرکله

سـ۱۰۲ :- دَ دے ایت نه دَ بلے ابتلاء دَ ابراهیم علیه السّلام واقعه ذکر کوی. السَّعْیَ یعنی داسے عمر ته اورسیدلو چه دَ پلار سره کاروبار ئے کولے شو او عبادت ئے هم کولے شو او په داسے عمر کښ دَ اولاد مرګ دَ ډیر غم سبب وی. اَرٰی فِی الْمَنَامِ دا دلیل دے چه رویا دَ انبیاء علیهم السّلام قطعی وحی ده چه په هغے باندے عمل کول فرض دی. فَانْظُرْ مَاذَا تَرٰی دا دَ رائے نه ماخوذ دے. (سوال) هرکله چه حکم دَ الله تعالیٰ واجب العمل دے نو دَ ځوئ سره پکښ مشوره ولے کوی؟ جواب، دا دَ دے دَپاره چه دَ ځوئ صبر او طاعت دَ امر دَ الله تعالیٰ معلوم کړی نو زړه به ئے ډیر خوشحال شی. لفظ دَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ سبب دے دَپاره دَ توفیق دَ صبر.

(بحث دَ ذبیح) اختلاف دے دَ اهل علمو چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او که اسحاق علیه السّلام دے په دے کښ درے قولونه دی.

۱ اول قول دَ توقف دے زجاج وغیره دَ دلیلونو دَ تعارض دَ وجے نه په دے کښ توقف کړے دے. ۲ دوئم قول دا چه ذبیح اسحاق علیه السّلام دے او دا روایت دے دَ عبد الله بن مسعودؓ او دَ ابن عباسؓ او علیؓ بن طالب او عکرمه او سعید بن جبیر او مجاهد او شعبی وغیرهم نه، او دا غوره کړے دے ابن جریر او قرطبی. (دلیلونه دَ دے قول دا دی) دلیل اول احادیث موقوفه دی چه په هغے کښ وارد دی یوسف بن یعقوب بن اسحاق ذبیح الله بن ابراهیم خلیل الله. دلیل ثانی حدیث مرفوع په واسطه دَ عباسؓ بن عبد المطلب چه ذبیح اسحاقؑ دے. دلیل ثالث عبارت دَ تورات دے اذبح ولدك وحيدك اسحاق. لیکن درے واړه دلیلونه ضعیف دی هرچه اول دے نو مفسر ابن کثیر فرمائیلی دی چه دغه ټول اقوال په اصل کښ نقل دی دَ کعب الاحبار نه دَ هغهٔ نه په صحابه کرامو او تابعینو نقل کړی دَ روایاتو اسرائیلیو او امام بخاری ذکر کړے دی چه دَ دهٔ په روایتونو کښ به اکثر دروغ وو. هرچه دوئم دلیل دے نو په سند دَ دغه حدیث مرفوع کښ حسن بن دینار بصری او علی بن زید بن جدعان دے اول راوی متروک دے او دوئم منکر الحدیث دے. هرچه دریم دلیل دے نو ابن قیم

أَسْلَمَا وَتَلَّهٗ لِلْجَبِيْنِ ﴿۱۰۳﴾ وَنَادَيْنٰهُ أَنْ

چه غاړه کېښوده دواړو حکم د الله تعالیٰ ته او څملوئې هغه لره په اړخ د سر باندې ـ او اواز وکړو موږ هغه ته چه

الجوزیه په اغاثة اللهفان ص۳۲۸ ج۲ کښ ثابت کړے ده چه دا په تورات کښ تحریف لفظی دَ یهودیانو دے په اصل کښ وحیدك اسماعیل وؤ نو دوی دَ اسماعیل په ځائے باندے اسحاق اولیکو۔ ۳ دریم قول دا دے چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او دا قول دَ عبد الله بن عمرؓ او ابی هریرةؓ او علیؓ او ابو الطفیل او سعید بن مسیب وغیرهم دے او اکثر مفسرینو هم ئېنو دا قول صحیح گرځولے دے، (دلیلونه دَ دے قول) اول دلیل احادیث موقوفه دَ ابن عباس او دَ ابن عمر او روایات دَ مجاهد او دَ شعبی او محمد بن کعب قرظی او دَ حسن بصری دی او ابن کثیر نقل کړے دی په دے روایتونو کښ تصریح ده چه ذبیح اسماعیل علیه السلام دے او یهودیانو وئیلے دی چه اسحاق علیه السلام دے لیکن هغوی دروغ وائی۔ دویم دلیل ابراهیم علیه السلام دَ دے (ذبیح) ولد په باره کښ دعا کړے وه رب هب لی من الصالحین او اسحاق علیه السلام په غیر دَ دُعا دَ هغه نه پیدا شوید ے۔ دریم دلیل دَ اسحاق علیه السلام په باره کښ قران کریم کښ غلام علیم وئیلے شوید ے او دلته غلام حلیم دے معلومه شوه چه دا اسماعیل علیه السلام دے۔ څلورم دلیل په دے ایاتونو (دَ سورة صافات) کښ دوه کرته بشارت ذکر دے دویم بشارت کښ تصریح ده په اسحاق علیه السلام باندے نو اول بشارت کښ چه هم دے مراد کړے شی نو تکرار به راشی۔ پنځم دلیل په اتفاق سره ثابته شویده چه واقعه دَ ذبح په مکه کښ په منیٰ کښ شویده او هلته کښ مقیم اسماعیل علیه السلام وؤ سره دَ مور نه۔ شپږم دلیل دَ اسحاق علیه السلام په باره کښ چه بشارت دے نو په هغے کښ ورسره بشارت په یعقوب علیه السّلام سره ذکر دے چه هغه ځوئے دَ اسحاق علیه السلام دے نو دَ هغے نه معلومیږی چه اسحاق علیه السلام به نه مړکیږی چه جوړ پورے دَ هغه ځوئے یعقوب علیه السّلام نه وی پیدا شوے نو ابتلاء په ذبح سره نشی کیدے۔ اووم دلیل حدیث دَ انا ابن الذبیحین دے یو ذبیح عبد الله وؤ پلار دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم چه نذر کړے وؤ خپل پلار عبد المطلب او په باره دَ ذبح دَ هغه کښ ئې بیا دَ هغه په ځائے سل اوښان یا یوکیا ذبح کړو۔ (پاتے په بل مخ)

يَّاِبْرٰهِيْمُ ﴿۱۰۴﴾ قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا ۚ اِنَّا

اے ابراهیم یقیناً رشتیا کړو تا خوب لره یقیناً

كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِنَّ

دغه شان بدله ورکوو موږ خائسته عمل کوونکو ته ۔ یقیناً

هٰذَا لَهُوَ الْبَلٰٓؤُا الْمُبِيْنُ ﴿۱۰۶﴾ وَفَدَيْنٰهُ

دا خامخا ازمائیښت ښکاره دے ۔ او بدله ورکړه موږ هغه ته

او دوېم ذبیح اسماعیل علیه السّلام دے ۔ (د دا مضمون دَ اغاثة اللهفان نه راغستلے شوے دے) نو معلومه شوه چه ذبیح اسماعیل علیه السّلام دے او مقابل قول ضعیف دے ۔

۱۰۳-۱۰۴-۱۰۵ :۔ أَسْلَمَا دواړه حکم دَ الله تعالیٰ ته تابع شول یعنی ابراهیم علیه السلام اسباب دَ ذبح کولو تیار کړل او اسماعیل علیه السّلام منا یوحیت دَ یاره تیار شو۔

لِلْجَبِيْنِ جبین دَ تندی هر دواړو طرفونو ته ویلے کیږی او جبهه تندی ته ویلے کیږی یعنی په اړخ باندے واچوؤ لکه چه ذبح کولو دَ پاره عامه طریقه ده او جزا دَ لمّا پټه ده (فديناه بكبش) یا (كان ما كان من حالهما) "او شول هغه کارونه چه کیدل" او جزاء ئے حذف کړے ده دَ دے وجے نه چه په هغے تفصیل او حقیقت باندے یو الله تعالیٰ عالم دے۔
قَدْ صَدَّقْتَ الرُّءْيَا (سوال) ذبح نه ده شوے نو څه رنګ خوب رشتینے شو؟ (جواب) خوب کښ ئے اذبحك ویلے دی ذبحتك ئے نه دے ویلے یعنی ذبح کولو ته تیاری کول ئے په خوب کښ لیدلے وه۔ او هغه معلومه شوه أَسْلَمَا سره ۔ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ یعنی اخلاص کوونکی په بندګے دَ الله تعالیٰ کښ دَ هغوی بندګی الله تعالیٰ قبلوی او په هغوی باندے اسانتیا راولی ۔

۱۰۶ :۔ بلاء په معنیٰ دَ امتحان او ابتلاء دے او دا معنیٰ ظاهره ده یا په معنیٰ دَ نعمت او احسان دے او هذا اشاره ده روستو ایت ته یعنی بدله پکړی سره

بِذِبۡحٍ عَظِيۡمٍ ﴿۱۰۷﴾ وَتَرَكۡنَا عَلَيۡهِ
په حلال شوي لوی ۔ او پرېښودلو مونږ په هغه باندے

فِى الۡاٰخِرِيۡنَ ﴿۱۰۸﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِبۡرٰهِيۡمَ ﴿۱۰۹﴾
په روستنو خلقو کښې ۔ (داچه) سلام دے په ابراهیم علیه السّلام باندے۔

كَذٰلِكَ نَجۡزِى الۡمُحۡسِنِيۡنَ ﴿۱۱۰﴾ اِنَّهٗ
دغه شان بدله ورکوو مونږ ښائسته عمل والو ته ۔ یقیناً دے دۀ

مِنۡ عِبَادِنَا الۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۱۱۱﴾ وَبَشَّرۡنٰهُ بِاِسۡحٰقَ
زمونږ د بندګانو مؤمنانو نه ۔ او زیرے ورکړو مونږ دۀ ته په اسحاق علیه السّلام سره

نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيۡنَ ﴿۱۱۲﴾ وَبٰرَكۡنَا عَلَيۡهِ
نبي دۀ د نیکانو نه دۀ ۔ او برکتونه راچول مونږ په هغه باندے

سکا :۔ وفدیناه فدیه ورکول دَ یو بندیوان دَ خلاصولو دَپاره وی یعنی ابراهیم علیه السّلام خوئی لره ته پرېښودلو لیکن مونږ ترینه په فدیه سره خلاص کړو ۔ ذِبح په زیر دَ ذال سره په معنیٰ دَ مذبوح دے او په زور سره مصدر دے ۔ عَظِیم یعنی قدر او مرتبه یې لویه وه ځکه چه دَ لوئے سړی په بدله کښې یې لوئے سړی لره ورکړو او هغه یو ګډ وو چه الله تعالیٰ دَ غیبونه را اولیږلو او ابراهیم علیه السّلام ته امر او شو چه دِے ذبح کړه ۔ دا دلیل دے چه قربانی کول په ګډ سره افضل دی ۔ او بعض مفسرینو ویلے دی چه دا قربانی کول چه سنّت دَ ابراهیم علیه السّلام په ټولو امتونو کښې جاری دے دا ذِبح عظیم دہ ۔ او دا رنګ دَ دیته عبدالله بن عباس رضی الله عنهما استدلال کړے دے چه چا نذر اوکړو په ذبح دَ ولد سره نو په ذبح کولو دَ ګډ سره دِ نذر پوره کړی لیکن دا هغه وخت چه ذبح کول دَ ولد حلال نه ګنړی که حلال ګنړی نو دا نذر دے په ګناه سره هغه خو صحیح نه دَے۔

سټا سنا سنا ساا پہ دے ایاتونو کښې ذکر کړے دے احتیاج دَ ابراهیم علیه السّلام الله تعالیٰ ته په سلامتیا او جزا کښې او ذکر دے عبدیت دَ هغهٔ دَپاره دَ الله تعالیٰ ۔ نور تفسیر مخکښې تیر شویدے۔

سا :۔ دا دویم بشارت دے معلومه شوه چه اول ذبیح په بل مخ)

وَعَلٰٓى اِسْحٰقَ ۭ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا مُحْسِنٌ

او په اسحاق علیه السلام باندے او دَ اولاد دَ دواړو نه څوک خاشته عمل والا دی

وَّظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ مُبِيْنٌ ﴿۱۱۳﴾ وَلَقَدْ مَنَنَّا

او څوک ظلم کوی په خپل ځان باندے ښکاره - او یقینًا احسان کړیدۀ مونږ

عَلٰى مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿۱۱۴﴾ وَنَجَّيْنٰهُمَا

په موسٰی علیه السّلام او هارون علیه السلام باندے. او خلاص کړل مونږ دوی

وَقَوْمَهُمَا مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ﴿۱۱۵﴾

او قوم دَ دوی دَ غم لوئے نه

وَنَصَرْنٰهُمْ فَكَانُوْا هُمُ الْغٰلِبِيْنَ ﴿۱۱۶﴾

او مدد اوکړو مونږ دَدوی سره نو دوی شول زور اور

ع ۳

بشارت په اسماعیل علیه السّلام سره وۀ - مِنَ الصّٰلِحِيْنَ دا صفت روستو دَ نَبِيًّا نه دَپاره دَ تاکید دے په کمال صلاحیت سره په کمال دَ نفس خپل او په تکمیل سره دَ غیر کښ .

سـ۱۱۳ :- اشاره ده چه دوی په برکاتو کښ الله تعالیٰ ته محتاج وۀ. دَ برکت نه چه روستو عَلٰىٓ راغلی نو دلالت کوی چه اثر دَ دے برکاتو په ظاهر کښ هم دے لکه چه په باطن کښ دے او فیه چه راغلی نو دلالت کوی په برکاتو باطنیو باندے او دلته برکتِ ظاهریه دا دے چه الله تعالیٰ دے دواړو ته ډیر اولاد ورکړل او پیغمبران ئے دَ دوی په اولاد کښ پیدا کړے دی.

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِمَا یعنی دَ دوی اولاد دوه ډلے دی مؤحدین او غیر مؤحدین او په دے کښ اشاره ده چه پیدا کیدل دَ پیغمبرانو دَ پلار دَپاره سبب دَ نجات نه دے کله چه هغه ظالم او مشرک وی او دا رنګ مشرک او ظالم کیدل دَ اولاد پلار ته نقصان نه رسوی کله چه هغه پخپله صالح وی.

دَ سـ۱۱۴ نه تر سـ۱۲۲ پورے دا دریمه قصه ده په دے کښ ذکر کوی احتیاج دَ موسٰی او هارون علیهما السّلام په ټولو نعمتونو او کمالاتو کښ الله ﷻ ته. اول احسان دَ نبوت دویم نجات دَ غرق نه دریم نصرت او غلبه څلورم

وَاٰتَيْنٰهُمَا الْكِتٰبَ الْمُسْتَبِيْنَ ﴿۱۱۷﴾ وَهَدَيْنٰهُمَا
و ورکړو مونږ دوی ته کتاب ښه ښکاره حکمونو والا ۔ او پاخه کړے موږ دوی دواړه
الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۱۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِمَا
په لاره نیغه باندے ۔ او پریخودلے دے مونږ په دے دواړو باندے
فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۱۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰى مُوْسٰى
په روستو خلقو کښ سلام دے په موسٰی
وَهٰرُوْنَ ﴿۱۲۰﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲۱﴾
او هارون علیهما السلام باندے۔ یقینًا دغه شان بدله ورکوو مونږ ښائسته عمل والو ته
اِنَّهُمَا مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَاِنَّ
یقینًا دا دواړه زمونږ د بندګانو مؤمنانو نه وو ۔ او یقینًا
اِلْيَاسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۲۳﴾ اِذْ قَالَ
الیاس علیه السلام خامخا د رسولانو نه دۇ ۔ کله چه اُوئیل ئے
لِقَوْمِهٖٓ اَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ اَتَدْعُوْنَ
قوم خپل ته آیا نه بچ کیږئ د شرک نه ۔ آیا رابلئ تاسو په حاجتونو کښ

کتاب الله نِعَم هدایت دَ صراط مستقیم شیرین ثناءِ حسن او سلامتیا او وم جزاء دَاحسان او اخلاص او په آخر کښ ذکر دے عبدیت خاصه دَ دے دواړو، نو دا دلیل دے چه دوی شفعاءِ شرکیه (الٰهه) نشی کیدلے۔
لکرب العظیم مراد دَ دے نه غرق دے یا غلامی دَ فرعونیانو۔
وَنَصَرْنٰهُمْ ضمیر موسٰی او هارون علیهما السّلام او قوم ته راجع دے۔
المُسْتَبِيْنَ چه پوره نور پکښ وی او جامع وی دَ علومو او حکمتونو نه او هغه تورات وۇ وَهَدَيْنٰهُمَا مراد دَ دے نه سنت دَ دے دواړو دے چه هغه شرحه وه دَ تورات دَ پاره۔
دَ ۱۲۳ نه تر ۱۳۲ پورے دا څلورمه قصه ده۔ په دے کښ ذکر کوی عبدیت دَ الیاس علیه السلام په طریقه دَ دعوت کولو دَ هغهٔ توحید ته او رد کول په شرک باندے او بیا ذکر کوی رپاتے په بل مخ)

بَعْلًا وَّ تَذَرُوْنَ اَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ ﴿۱۲۵﴾
بعل لره او پریږدئ تاسو ښائسته د شکل جوړوونکو نه

اللّٰهَ رَبَّكُمْ وَرَبَّ اٰبَآئِكُمُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۲۶﴾
چه الله دے رب ستاسو او رب د مشرانو ستاسو پخوانو دے.

فَكَذَّبُوْهُ فَاِنَّهُمْ لَمُحْضَرُوْنَ ﴿۱۲۷﴾ اِلَّا
نو دروغژن ئې اوبل هغه ته نو یقینًا دوی به خامخا حاضر کړیشی په عذاب کښ مګر

عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۲۸﴾ وَتَرَكْنَا عَلَيْهِ
بندګان د الله تعالی چه ساتلے شوی - او پریښودو مونږ په دهٔ باندے

فِى الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۲۹﴾ سَلٰمٌ عَلٰٓى اِلْ يَاسِيْنَ ﴿۱۳۰﴾
په روستو خلقو کښ سلام دے په الیاسین علیه السّلام باندے.

احتیاج دَدهٔ الله تعالیٰ ته په ثناءِ حسن او سلامتیا کښ او اخر کښ ذکر کوی عبدیتِ خاصه ددهٔ - وَاِنَّ اِلْيَاسَ اتفاق دے دَ مفسرینو چه دا رسول وُ په بنی اسرائیلو کښ هرکله چه هغوی په شرک کښ اخته شول او دَ عکرمه او ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے چه دَدهٔ نوم ادریس وُ نو کیدے شی چه الیاس ئې لقب وی او ادریس ئې عَلَم وی یا په عکس سره او دَ دهٔ په باره کښ چه کوم حدیث قرطبی او نورو ذکر کړے دے چه هغه ژوندے دے او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ملاقات شوید ے نو سیوطی دَ امام ذهبی نه نقل کړے دی چه دا حدیث موضوعی دے دا رنګ حدیث دَ ژوند دَ خِضر او دَ الیاس علیهما السلام صوفیاؤ بے سنده ذکر کړے دی او هرکله چه دهٔ دَ شرک سِکاره مقابله کړے وه نو دَدے وجے نه ئې وصف دَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ذکر کړو. اَلَا تَتَّقُوْنَ مراد دَ تقویٰ نه دَ شرک نه بچ کیدل دی. اَتَدْعُوْنَ دا تفسیر دَ عدم تقویٰ دے. بَعْلًا مفسرینو لیکلی دی چه بعل بُت (شکل) دَ سپینو زرو نه ئې جوړ کړے وُ او شل ذِ راعه اوګد وُ او دَ هغې څلور سوه منجوران خدمتګاران وو او شیطان به کله کله په هغه بُت کښ دننه داخل شو او دَ دوی سره به ئې دَ ګمراهئ خبرے کولے - او بَکّ دَ هغه ځائے

إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿۱۳۱﴾
يقيناً دغه شان بدله وركوو مونږ ښائسته عمل والو ته۔

إِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۳۲﴾ وَإِنَّ
يقيناً دے زمونږ دَ بندګانو مؤمنانو نه وؤ۔ او يقيناً

لُوطًا لَّمِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۳۳﴾ إِذْ نَجَّيْنَاهُ
لوط عليه السّلام وؤ خامخا دَ رسولانو نه ۔ كله چه خلاصے وركړه مونږ دهٔ لره

وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿۱۳۴﴾ إِلَّا عَجُوزًا
او كورنۍ دَ دهٔ ټولو لره مګر بوډۍ ده

بادشاه وؤ او دَ خپل ښار توم ئې بعليك كيخودلے وؤ۔
وَتَذَرُوْنَ أَحْسَنَ الْخَالِقِيْنَ وذر په هغه ځائے كښ استعماليږي چه روستو دَ تعلق نه ئې پرېږدي نو هر مشرك دَ الله تعالىٰ سره ، سرهٔ دَ تعلق ساتلو نه شرك كوي۔ الْخَالِقِيْنَ خلق په معنىٰ دَ تصوير دے لكه چه سورة مؤمنون ۱۴ كښ هم ذ كر شويدى۔ لَمُحْضَرُوْنَ مطلق احضار دَ عذاب په ځائے كښ استعماليږي۔ إِلْيَاسِيْنَ غوره داده چه مراد په دے سره الياس دے ليكن عرب په اسماءِ عجميه كښ ډير تصرفات كوي چه په هغې سره مقصد ته نقصان نه رسيږي۔ إِلَّا عِبَادَ اللهِ الْمُخْلَصِيْنَ صحيح داده چه دا استثناء ده دَ ضمير دَ كَذَّبُوْهُ نه۔
دَ ۱۳۳ نه تر ۱۳۸ پورے۔ دا پنځمه قصه ده په دے كښ احتياج دَ لوط عليه السلام ذكر كوي په خپل نجات كښ او دَ اهل په نجات كښ او په هلاكت دَ قوم كښ سرهٔ دَ زجر او تخويف نه منكرينو ته۔
مُصْبِحِيْنَ وَبِالَّيْلِ په دے كښ خطاب دے اهلِ مكه ته چه هر كله به دوى شام ته تلل په سفر دَ تجارت سره نو چه دَ مكے نه به ماښام روان شول نو صبائي وخت كښ به كلو دَ قوم لوط عليه السلام ته او رسيدل او كه صبا وخت به ئې سفر شورو كړو نو دَ شپے وخت كښ به هلته اورسيدل۔ او مصبحين ئې په صيغه دَ اسم سره ذكر كړو اشاره ده چه اوله طريقه دَ سفر چه دَ شپے سفر دے دا به ډير وؤ په نسبت دَ سفر دَ ورځے ځكه قافلے اكثر دَ شپے سفر كوي۔ (پاتے په بل مخ)

فِى الْغٰبِرِيْنَ ﴿۱۳۵﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا الْاٰخَرِيْنَ ﴿۱۳۶﴾

په پاتې کېدونکو کښې . بيا تباه کړل مونږ نور خلق .

وَاِنَّكُمْ لَتَمُرُّوْنَ عَلَيْهِمْ مُّصْبِحِيْنَ ﴿۱۳۷﴾

او يقينًا تاسو ورتېرېږئ په دوی باندې د صبا په وخت کښې

وَبِالَّيْلِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَاِنَّ

او د شپې ايا نو د عقل نه کار نه اخلئ تاسو . او يقينًا

يُوْنُسَ لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۳۹﴾ اِذْ اَبَقَ

يونس عليه السّلام خامخا د رسولانو نه دۓ . کله چه لاړلو (بے اجازته)

اِلَى الْفُلْكِ الْمَشْحُوْنِ ﴿۱۴۰﴾ فَسَاهَمَ

د ډکې کړې شوې کشتۍ ته نو حسنړے اوکړو

ع ۵ ۸

فائده:- په دے واقعه دَ لوط عليه السّلام کښې (سلام) او (انه من عبادنا) ئے نه دے ذکر کړے اشاره ده چه نوح او ابراهيم او موسٰی او الياس عليهم السّلام هغه انبياء وو چه دَ هغوی دَ قتل کولو ارادے قومونو کړے وے ليکن دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه هغوی ته سلامتيا او حفاظت ورکړے شوے وۀ او دَ لوط عليه السّلام دَ قتل کولو دَ ارادے ذکر نه دے کړے شوے . او دارنګ تير شوے انبياء عليهم السّلام هغه وو چه په دعوت الی التوحيد کښې ډير تکاليف ئے برداشت کړے وو او روستو دَ وفات کيدلو دَ هغوی نه بعضِ خلقو دَ هغوی دَ الوهيت عقيدے ساتلے وے او دَ لوط عليه السّلام حال داسے نه وۀ دَ دے وجے نه دلته ئے (انه من عبادنا) ذکر نه کړو او نورو سره ئے ذکر کړے وۀ (والله اعلم بالصواب) .

دَ ۱۳۹ نه ۱۴۸ پورے دا شپږمه قِصّه ده او په دے کښې ذکر کوی تفصيلی حال دَ يونس عليه السّلام په بيان دَ عبديت دَ هغهٔ په پنځه طريقو سره . رسول وۀ . بے اجازته تلے وۀ . حسنړے اچولو کښې پرے شو . مهی (کب) تير کړو . تسبيح ئے ويله . او احتياج دَ دهٔ ئے ذکر کړے دے په څلورو طريقو سره . راتويستل دَ خيټے دَ مهی نه . اوُ نهٔ دَ هغه دَ

فَكَانَ مِنَ الْمُدْحَضِيْنَ ﴿۱۴۱﴾ فَالْتَقَمَهُ

نو شو د پړ شوؤ نه . نو تیر کړه دهٔ لره

الْحُوْتُ وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۱۴۲﴾ فَلَوْلَآ اَنَّهٗ كَانَ

مهی او دے وو ځان ملامته کوؤنکے . نو که چرے نه وے دے

مِنَ الْمُسَبِّحِيْنَ ﴿۱۴۳﴾ لَلَبِثَ فِیْ بَطْنِهٖۤ

د تسبیح ویونکو نه تو حصار شوے به وؤ په خیټه د مهی کښ

اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴۴﴾ فَنَبَذْنٰهُ بِالْعَرَآءِ

تر ورځے د دوباره ژوندی یورے . نو اوغورځوؤ مونږ دهٔ لره په ډاګه باندے

وَهُوَ سَقِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾ وَاَنْۢبَتْنَا عَلَيْهِ شَجَرَةً

او دے ناجوړه وؤ . او دا اوتوکوله مونږ په دهٔ باندے اُوته

مِّنْ يَّقْطِيْنٍ ﴿۱۴۶﴾ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰى مِائَةِ

د قسم د کدُو نه . او اولیږلو مونږ دے یو لاکه

دپاسه زرغونه ول بیا لیږل په رسالت سره ، متاع ورکول ، نو دا ټول دلیلونه دی چه یونس علیه السلام د الله تعالیٰ سره شریک نه شی کیدلے او نه شفیع قهری کیدے شی . اَبَقَ بغیر د اجازت د مولیٰ نه تللو ته اباق ویلے کیږی : دے هم هر کله چه نا امیده شو د ایمان د قوم نه او وخت د عذاب د هغوی هم نزدے شو نو اجتهاد ئے اوکړو چه پیغمبران خو د قوم د عذاب په وخت کښ د هغه کلی نه او ځی نو دے د دے وجه نه د هغه کلی نه بهر لاړو او د الله تعالیٰ د خاص حکم انتظار ئے اونکړو نو یو کشتئ کښ سور شو چه په هغے کښ سورلے ډیرے وے هر کله چه کشتئ د دریاب مینځ ته اورسیده نو د ډیر درونده والی د وجے نه غرقیدلو ته نزدے شوه نو کشتئ والو فیصله اوکړله چه د دے نه یوه سورلی کمه ول ضروری دی چه کشتئ سپکه شی نو د دریاب په مینځ کښ د کشتئ نه غورځولو ته هیڅوک تیار نه وو نو دوی اتفاق اوکړو چه قرعه اندازی به اوکړو چه د چا قرعه راوځی نو هغه به مجبورًا د کشتئ نه اوغورځوو نو قرعه د یونس علیه السلام راوتله دا مطلب دے د دے قول فساهم فکان من المدحضین (رباتے په بل مخ)

أَلْفٍ أَوْ يَزِيدُونَ ﴿۱۴۷﴾ فَآمَنُوا فَمَتَّعْنَاهُمْ

خلقو ته بلکه زیاتیدل ۔ نو ایمان راوړو دوی نو مزه ورکړې موږ هغوی ته

إِلَىٰ حِينٍ ﴿۱۴۸﴾ فَاسْتَفْتِهِمْ أَلِرَبِّكَ الْبَنَاتُ

تر یو وخت پورې ۔ پس ته تپوس اوکړه د دوی نه آیا ستا رب لره لوڼړه دی

فائده :- قرعه کول په هغه حالت کښې شرعًا جائز دی چه دَ هر سړی حق هغه ته اورسیږی لیکن دَ رواتې والی او روستو والی دَ پاره یا دَ معمولی فرق دَ وجې نه دَ پاره د تطیب قلب قرعه اوکړے شی او هیڅوک دَ خپل حق نه محروم نشی نو دا جائزده هم دارنګ چه حق واجبه دَ بچانهٔ دی لیکن دَ انعام او دَ احسان په طور سره په ډیرو کسانو کښې یو شخص له انعام ورکوی نو دَ هغه تعیین اوکړیشی په قرعه کولو سره ۔ او مفسر قرطبی لیکلی دی چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه درے مواضعو کښې قرعه کول ثابت دی. ۱ په حال دَ سفر کښې دَ بیبیانو په مینځ کښې قرعه کول چه کوم یوه ځان سره یوځی. ۲ یو شخص وؤ شپږ مریان ئے آزاد کړے وو او نور مال ئے نوؤ نو نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ ثلث دَ پاره قرعه اوکړه یعنی دوه ئے دَ هغې نه آزاد کړل ۳ په تقسیم دَ میراث کښې ۔ او هر چه واقعه دَ یونس علیه السلام ده نو دا مختص وؤ په هغه وخت پورے او په هغې کښې دَ الله تعالیٰ ډیر حکمتونه وو او س زمانه کښې که داسے واقعه راشی نو نه دی جائز چه یو تن لره دِ دریاب ته اوغورځولے شی بلکه صبر به کوی په قضا دَ الله تعالیٰ باندے او الله تعالیٰ ته به التجاء کوی ۔

مُلِيمٌ ځان لره ملامته کوونکے وؤ په اقرار کولو سره چه انی کنت من الظالمین ۔ الْمُسَبِّحِينَ مراد دا دے چه دَ مخکښې وخت نه ډیر ذکر کوونکے وؤ نو دا مصداق دے چه اذکروا الله فی الرخاء یذکرکم فی الشدة ریاد وئ الله تعالیٰ لره په حالت دَ فراخۍ کښې نو الله تعالیٰ به یاد کړی تاسو په سختۍ کښې) یا مراد دا دے چه دَ مهی په خیټه کښې لا اله الا انت سبحانك ذکر ئے کولو ۔ او په دے کښې ترغیب دَ ذکر کولو دَ الله تعالیٰ ته په کثرت سره په هر حالت کښې او په سبب دَ هغې سره مصیبتونه دفع کیږی ۔ فَنَبَذْنَاهُ وَهُوَ سَقِيمٌ یعنی مهی ته الله تعالیٰ حکم اوکړو نو هغه دَ دریاب په غاړه باندے اوغورځولو. الْعَرَاءِ میدان.

وَلَهُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۱۴۹﴾ اَمْ خَلَقْنَا الْمَلٰٓئِكَةَ

او دوی لره ځامن دی ایا پیدا کړیدي مونږ ملائک

خالی مکان او غاړے دَ دریاب ته ویلے کیږی۔ سَقِیْمٌ چه بدن ئے بیماروی لکه بچی چه دَ مور نه پیدا شی او بدن ئے کچه وی۔ (سوال) سورۃ قلم ۴۹ کښ دی (لولا ان تدارکهٔ نعمةٌ من ربه لنبذ بالعراء وهومذموم) دَ دے دواړو ایاتونو په مینځ کښ په ظاهر کښ تعارض دے جواب ذا دے چه دَ سورۃ قلم مطلب دا دے چه دَ مذموم حالت نه بچ او ساتلے شو او دَ دے ایت مطلب دا دے چه په غاړه باندے ئے او غورځوؤ صرف بیمار وؤ لیکن مذموم او بدحاله نه وؤ بلکه الله تعالیٰ دَ هغهٔ حفاظت اوکړو شجره (راوته) ئے دَ هغه په خوا کښ پیدا کړه دَ هغے په پاڼو سره ئے په هغهٔ باندے سورے اوکړو او دَ هغے دَ وچے نه دَ دهٔ بدن ته ځان هم تشو ترد ے کیدلے او مشهوره داده چه اونه (بوټے) دَ یَقْطِیْنٍ وؤ یعنی کدو۔ وَاَرْسَلْنٰهُ اِلٰی مِائَةِ اَلْفٍ په دے کښ مقصد دوباره واپس رالیږل دی خپل قوم ته اگر چه دے دَ مخکښ نه هم رسول وؤ او کوم روایت چه بعض مفسرینو نقل کړے چه دے دَ کب دَ خیټے دَ راوتلو نه روستو رسول کړے شو دا روایت ضعیف دے په هغے کښ شهر بن حوشب راوی دے او هغه متروک او ضعیف دے۔ اَوْ یَزِیْدُوْنَ اَوْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے یعنی دَ دے نه روستو الله تعالیٰ هغه قوم وخت په وخت زیاتی کول او برکات ئے پکښ واچوؤل۔ فَاٰمَنُوْا (سوال) سورۃ یونس ۹۸ کښ تیر شویدی چه دوی ایمان راوړو په وخت دَ لیدلو دَ علاماتو دَ عذاب کښ او دلته نه معلومه شوه چه روستو ئے ایمان راوړو ؟ جواب دا دے چه دلته مراد دے چه یونس علیه السّلام واپس راغے نو دوی تفصیلی ایمان راوړو او مخکښ ئے صرف اجمالی ایمان راوړے وؤ۔

دَ ۱۴۹ نه تر ۱۵۷ پورے دَ دے نه دریم باب دے تر آخر دَ سورت پورے۔ په دے کښ رد دے په مشرکین بالملائکه باندے او مشرکین بالجن باندے۔ بیا بیان دَ ملائکو دے په طریقه دَ رد په عابدانو دَ دوی باندے او زجر دے منکرینو ته او بشارت دے او تسلّی ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته سرهٔ دَ تخویف دَ منکرینو ته او په آخر کښ دعویٰ دَ توحید ده او دعویٰ دَ سورت ده (پاتے په بل مخ)

اِنَاثًا وَّهُمْ شٰهِدُوْنَ ﴿۱۵۰﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ مِّنْ

خپل ښځې يقيناً دوی د وجې د
زنانه او دوی حاضر وو -

اِفْكِهِمْ لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَدَ اللّٰهُ ۙ

ولد نيولے دے الله تعالیٰ
دروغو د دوی نه خامخا وائي

وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۱۵۲﴾ اَصْطَفَى الْبَنَاتِ

آيا غوره کړے دی الله تعالیٰ لوڼړه
او يقيناً دوی خامخا دروغژن دی -

عَلَى الْبَنِيْنَ ﴿۱۵۳﴾ مَا لَكُمْ ۣ كَيْفَ

څه دليل دے ستاسو څه رنګ
په ځامنو باندے

تَحْكُمُوْنَ ﴿۱۵۴﴾ اَفَلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۱۵۵﴾ اَمْ لَكُمْ

آيا تو تاسو نصيحت نه اخلئ يا تاسو لره شته
فيصله کوئ تاسو -

سُلْطٰنٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۵۶﴾ فَاْتُوْا بِكِتٰبِكُمْ

نو راوړئ کتاب ستاسو
دليل ښکاره

اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۷﴾ وَجَعَلُوْا بَيْنَهٗ

او جوړ کړے دے دوی په مينځ د الله تعالیٰ
که يئ تاسو رشتين -

په ذکر د احتياج د رسولانو الله تعالیٰ ته په سلامتيا کښ- دا رسول (۱۴۹) متعلق دے د ابتدا د سورت سره او رد دے د مشرکين بالملائکه په درے عقيدو باندے اول تقسيم چه الله تعالیٰ لره بنات (لوڼړه) ثابتوی او د ځان د پاره ځامن. دوم ملائکو ته مؤنث وائي - دريم ملائک د الله تعالیٰ لوڼړه ګڼړی يعني هغهٔ لره ولد ثابتوی. وَهُمْ شٰهِدُوْنَ يعني ذکورة او انوثة د مشاهدے سره تعلق لری نو دوی خو د هغوی پيدائش نه دے ليدلے دا رنګ سورة زخرف ۱۹ کښ راځي- مِنْ اِفْكِهِمْ يعني دا دواړه تيرے شوے عقيدے د دوی خو د حقيقت نه بالکل مخالف دی او د غه سبب دے د پاره د دريم قول چه (ولد الله) او په دے قول کښ هم کاذب دی او د کاذب په قول باندے اعتبار نشی کيدلے.
مَالَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُوْنَ دا مطالبه د دليل عقلی ده د دوی نه يعني عقل خو دا

وَبَيْنَ الْجِنَّةِ نَسَبًا ۭ وَلَقَدْ عَلِمَتِ الْجِنَّةُ

او د پیریانو کښې نسب او یقیناً پوهیږی پیریان

إِنَّهُمْ لَمُحْضَرُونَ ﴿۱۵۸﴾ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا

چه دوی به خامخا حاضر کړے شی په عذاب کښې پاک دے الله تعالیٰ د هغې نه چه دوی

يَصِفُونَ ﴿۱۵۹﴾ إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ ﴿۱۶۰﴾

بیانوی. مګر بندګان د الله تعالیٰ چه ښځ ساتلے شویدای.

...مئ چه الله تعالیٰ چه افضل نوع (ناریه اولاد) پریږدی او لوټره د خوره کوی دا فیصله بے دلیله ده. أَمْ لَكُمْ سُلْطَانٌ مُبِينٌ په دے کښې طلب د دلیل نقلی دے د تېر شوو انبیاء علیهم السّلام نه فَأْتُوا بِكِتَابِكُمْ په دے کښې مطالبه د دلیل وحی ده ځکه چه مراد د کتاب نه کتاب د الله تعالیٰ دے.

۱۵۸ - ۱۵۹ - ۱۶۰: په دے آیاتونو کښې رد دے په مشرکین بالجن باندے یعنی هغه خلق چه جنّات ئې د الله تعالیٰ سره شریکان ګڼړلی دی په صفاتو د علم غیب او بنا هې ورکولو کښې او په عبادت کولو کښې لکه چه سورۂ سبا وسورۂ جن کښې معلومیږی او بعض مفسرینو ویلے دی چه دا رد دے په مجوسیانو باندے چه هغوی ویلے دی چه الله تعالیٰ او شیطان (ابلیس) دواړه رونړه دی یو خاوند د خیر دے او بل خاوند د شر دے نو د نَسَبًا نه مراد په اوله توجیه باندے نسبت د شرکت دے او دا قول د حسن بصری نه نقل دے او په دویمه توجیه باندے اخوت (رورولی) مراد دے. إِنَّهُمْ ضمیر راجع دے جنّاتو ته ځکه چه هغه جنات چه دوی د الله تعالیٰ سره شریک جوړول ګمراهان او مفسدان وو یا ضمیر راجع دے مشرکانو ته. عَمَّا يَصِفُونَ مراد وصف نه نسبت د ولد او شریک دے الله تعالیٰ ته او الله تعالیٰ د دے نه پاک دے. إِلَّا عِبَادَ اللَّهِ الْمُخْلَصِينَ په دے استثناء کښې درے وجوه دی اوله وجه دا چه استثناء ده د ضمیر د جعلوا نه دویمه دا چه استثناء ده د یصفون نه دریمه دا چه استثناء ده د لمحضرون نه او په مینځ کښې جمله معترضه ده او ظاهر دا ده چه استثناء په ټولو حالاتو کښې متصله ده.

فَإِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ ﴿۱۶۱﴾ مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ

نو یقینًا تاسو او هغه کسان چه تاسو بندګی کوئے دَ هغوی نه یئے تاسو په هغے باندے

بِفَاتِنِينَ ﴿۱۶۲﴾ إِلَّا مَنْ هُوَ صَالِ الْجَحِيمِ ﴿۱۶۳﴾

ګمراه کوونکی چا لره مګر هغه چالره چه هغه داخلیدونکے وی اُور ته.

وَمَا مِنَّا إِلَّا لَهُ مَقَامٌ مَعْلُومٌ ﴿۱۶۴﴾ وَ

او نیشته زمونږ نه هیڅوک مګر هغه دَپاره ځائے معلوم دے. او

إِنَّا لَنَحْنُ الصَّافُّونَ ﴿۱۶۵﴾ وَإِنَّا لَنَحْنُ

یقینًا مونږ خامخا صفونه جوړَ وو. او یقینًا مونږ

۱۶۱ ۱۶۲ ۱۶۳ :- دا تفریع ده په ماقبل باندے یعنی هرکله چه ملائک او انبیاء

علیهم السّلام او جنات عاجز او محتاج مخلوق دے نو دوی او تاسو هیچا لره

نه شئے ګمراه کولے یعنی عقل والا پوهیږی چه دا عاجز مخلوق دَ الله تعالیٰ

شریک نشی کیدے لیکن هغه څوک چه الله تعالیٰ دَ هغه دَ پاره جحیم مقرر

کړے وی نو هغه به ګمراه او مشرک شی. او دَ دے ایاتونو نه معلومه

شوه چه هدایت او ضلال په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دے. او دا رد دے

په منکرینو دَ تقدیر باندے او مفسر قرطبی دَ دے ایت په تفسیر کښ روایت

دَ عمر بن عبد العزیز رحمة الله نقل کړے دے. عَلَيْهِ ضمیر راجع

دے الله تعالیٰ ته یعنی په مقابله دَ الله تعالیٰ کښ یا راجع دے ما تعبدون

ته او علی په معنیٰ دَ با سره دے.

۱۶۴ ۱۶۵ ۱۶۶ :. دا دلیل نقلی دے دَ ملائکو نه یعنی ستاسو معبودان دَ

ګمراه کولو نه عاجز دی ځکه چه هغوی بذاتِ خود الله تعالی ته

عاجزی کوی او دلته عبارت کښ تقدیر دے یعنی تقول الملائکة

او دا رد دے په مشرکین بالملائکه باندے پشان دَ ابتداء دَ سورت

او بعض مفسرینو دا قول دَ نبی صلی الله علیه وسلّم ګرځولے

دے پس دا علت دَ ماقبل دے یعنی تاسو مونږه لشئے ګمراه کولے

ځکه چه مونږ په توحید باندے مضبوط یو. مَقَامٌ مَعْلُومٌ حدیث دَ

ترمذی نه ثابت ده چه په اسمانونو کښ دَ سپک او دَ لیشت ځائے هم

خالی نیشته بلکه په هغے باندے ملک ولاړ دے یا سجده کوونکے دے

لَمُسَبِّحُوْنَ ﴿۱۶۶﴾ وَاِنْ كَانُوْا لَيَقُوْلُوْنَ ﴿۱۶۷﴾

تسبیح ویونکی یو ۔ او وُ دوی خامخا ویل به ئے

لَوْ اَنَّ عِنْدَنَا ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۶۸﴾

که چرے وے زمونږ سره یاد داشت دَ مخکنو

لَكُنَّا عِبَادَ اللّٰهِ الْمُخْلَصِيْنَ ﴿۱۶۹﴾ فَكَفَرُوْا بِهٖ

خامخا وے به مونږ بندګان دَ الله تعالیٰ چې ساتلے شوی دَ ګناه نه ۔ نو انکار اوکړو دوی دَهغه ذکر

فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا

نو زرده چه دوی به پوهه شی ۔ او یقینًا مخکښ شویده وعده زمونږ

اوبیا ئے طریقه دَ قیام ذکر کړه یعنی په صفونو باندے ولاړ دی او حدیث صحیح سره ثابت دی چه زمونږ صفونه په موځ کولو کښ پشان دَ صفونو دَ ملائکو دی اولنی صفونه پوره کول دی نو بیا وروستے صفونه جوړول او دَ یو بل سره جوخت پیوست او دریدل، او بیا ئے دَحالت دَقیام او سجدے ذکر راوړو چه هغه تسبیح ده ۔ حدیث کښ ذکر ده چه ملائک تسبیح وائي سبوح قدوس ۔ نو معلومه شوه چه ملائک عابدان او عاجزی کوونکے دی نو هغوی معبودان او شفعاء قهریه نشی کیدلے ۔

۱۶۷ ۱۶۸ ۱۶۹ ۱۷۰۔ دا زجر دے مشرکینو ته روستو دَ اثبات دَ حجت ته په هغوی باندے ۔ ذِكْرًا مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ مراد دَدے نه واقعات او قصے دَ تیر شوو انبیاء علیهم السلام دی لکه چه په دے سورة کښ ذکر شول نو دَدوی تمنا پوره شوه بیا هم ایمان نه راوړی یا مراد دَ ذکر نه کتاب دے دَ جنس دَ کتابونو مخکنو نه یعنی نازل کړے شوے کتاب دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه، او دوی ته هغه کتاب راغے چه قرآن کریم دے لیکن دوی پرے کفر اوکړو نو دَ عذاب انتظار دے اوکړی ۔

لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۷۱﴾ اِنَّهُمْ لَهُمُ

دَ بندگانو زمونږ سره چه رسولان دی - یقینا خاڅا دوی

الْمَنْصُوْرُوْنَ ﴿۱۷۲﴾ وَاِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ

سره په مدد کیدے شی - او یقینًا لښکرے زمونږ خاڅا دوی په

الْغٰلِبُوْنَ ﴿۱۷۳﴾ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰی

غالب دی - نو مخ واړوه دَ دوی نه تر یو

۱۷۱،۱۷۲،۱۷۳ :- دَ زجر او تخویف دَ منکرینو نه روستو بشارت دنیویه دے رسولانو او مؤمنانو ته او دا سے ذکر دے په سورة غافر ۵۱ او سورة مجادله ۲۱ کښ. نصرت، په پیدائش دَ اسبابو او په نصرت غیبیه سره او دنیوی او اخروی دواړو ته شامل دے دا رنګ غلبه پس دَ نصرت نه نتیجه غلبه ده ظاهری او دنیوی غلبه یا په حجت سره یا اخروی غلبه دے ټولو ته شامل ده.

سوال :- په قرآن کریم کښ لس ایاتونو کښ دَ قتل دَ انبیاؤ ذکر په طریقه دَ اخبار سره موجود دے نو دا خو دَ نصرت او دَ غلبے سره منافی ده؟ جواب :- دَ دے په ډیرو وجوهو سره دے اول. خطیب شربینی او نورو مفسرینو ذکر کړے دی چه نصرت او غلبه کله په حجت سره وی او کله کله په دولت او استیلاء سره وی او کله کله په دوام او اثبات دَ دین سره وی پس مؤمن ګرچه مغلوب وی په بعض اوقاتو کښ په سبب دَ ضعف دَ احوالو دَ دنیا خو دے به غالب وی په اخرت کښ نو حکم په اعتبار دَ اغلب سره دے نو دا منافی نه دے دَ قتل دَ بعض انبیاؤ او دَ هزیمت دَ ډیرو مؤمنانو سره (ترجمه عبارت سراج المنیر)!

دوئم جواب دا دے چه دا وعده دَ رسولانو دَ اصحابو دَ شرائعو سره ده او قتل دَ انبیاء یعنی غیر اصحاب الشرائع ثابت دے او دا قول دَ حسن بصری نه قرطبی نقل کړے دے او دَ دے وجه نه دَ نصرت په ایاتونو کښ لفظ دَ رسول ذکر دے او دَ قتل په ایاتونو کښ صفت دَ نبوت ذکر دے او دا غوره جواب دے!

دریم جواب دا دے چه وعده دَ نصرت او غلبے خو دَ مؤمنانو سره هم

حِيۡنٍ ﴿۱۷۴﴾ وَّاَبۡصِرۡهُمۡ فَسَوۡفَ يُبۡصِرُوۡنَ ﴿۱۷۵﴾
وخت پورې او ګوره دوی ته زر دې دوی به هم اوګوري۔

اَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُوۡنَ ﴿۱۷۶﴾ فَاِذَا نَزَلَ
ایا عذاب زموږ په تادئ سره غواړئ۔ نو کله چه راکوزشي

بِسَاحَتِهِمۡ فَسَآءَ صَبَاحُ الۡمُنۡذَرِيۡنَ ﴿۱۷۷﴾
د دوی په میدانونو بانډې نو بد دې صبا د ویره ولو شو خلقو۔

شويده او حال داد ے چه دَ مؤمنانو دَ قتل او هزيمت نه خو انكار كول جهل دے تو دَ هغې چه څنګه تطبيق او جواب دے نو هغه په باره دَ پيغمبرانو كښې هم دے۔ او ځوک چه دَ دے ايا تونو دَ نصرت په بنا دَ پيغمبرانو دَ قتل نه مطلقا انكار كوي او دَ قتل دَ ايا تونو تاويلونه كوي نو دا تحريف معنوي سره مشابهت دے قرآن دَ دا سے بعيد تاويلونو نه برئ دے او حديث هم په دے باب كښې صريح دے (اشد الناس عذابا يوم القيامة من قتل نبيًا اوقتله نبي (نهايه ابن اثير ص۱۳)۔
۱۷۴ ـ ۱۷۵:۔ روستو دَ بشارت نه دا تسلي ده۔ حِيۡنٍ دَ دے نه مراد يو وخت مقرر دے په علم دَ الله تعالیٰ كښې كه فتح مكه وي او كه غزوه بدر يا نور عذابونه دَ دنيا۔ اَبۡصِرۡهُمۡ په معنیٰ دَ انتظار دے فَسَوۡفَ داد وعيد دَ پاره دے تبعيد دَ پاره نه دے۔
۱۷۶ ـ ۱۷۷:۔ هر كله چه دَ عذاب ذكر اوشو نو منكرينو استهزاء شورو كړه چه عذاب دِ زر راشي نو په هغې بانډ ے زجر دے او تخويف دے۔ بِسَاحَتِهِمۡ ساحة په اصل كښې صحن دَ كورته وائي مراد تري نه عذاب راتلل دي۔ ناسا په په دا سے طريقې سره چه دَ خلاصۍ روتري نه موقع۔
صَبَاحُ اكثر عذابونه دَ الله تعالیٰ په وخت دَ صبا كښې راغلي دي چه په دغه مبارک وخت كښې دا منكرين غافل وي۔ او حديث كښې وارد دي چه نبي صلى الله عليه وسلّم به كله په يو قوم بانډ ے دَ شپې راغی نو انتظار دَ صبا به ئے كوؤ نو هر كله چه په خيبر والو دَ شپې راغی او صبا ئے كړو نو رسول الله صلى الله عليه وسلّم اوفرمائيل " الله اكبر خربت خيبر انا اذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرين "

وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتّٰى حِيْنٍ ﴿۱۷۸﴾ وَّاَبْصِرْ

او مخ ترینه واړوه تر یو وخت پورې او ګوره

فَسَوْفَ يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۷۹﴾ سُبْحٰنَ رَبِّكَ

زر دے دوی به هم اوګوري - پاکی ده رب ستا لره

رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَسَلٰمٌ عَلَى

چه رب دَ عزت دے دَ هغه نه چه دوی بیانوي - او سلام دے (دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه) په

الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۱۸۱﴾ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۸۲﴾ ع

رسولانو باندے - او صفتونه دَ خدائے دی الله تعالیٰ لره چه رب دَ عالمینو دے -

---

۱۷۸ ۱۷۹ :- په دے کښ هم تسلّی ده لیکن اول کښ دَ حِيْنٍ نه مراد عذاب دَ دنیا وؤ او دلته عذاب اخروی مراد دے نو تکرار نیشته -

فائده :- اول ئې اَبْصِرْهُمْ ذکر کړے وؤ او دلته ئې بغیر دَ ضمیر نه ذکر کړو اشاره ده چه دَ دنیا عذاب په بعض خاصو خلقو باندے او دَ قیامت عذاب په ټولو منکرینو باندے راځی نو تخصیص ته حاجت نیشته -

۱۸۰ ۱۸۱ ۱۸۲ :- دا تفریع ده په کل سورت باندے او دعوی دَ توحید ده یعنی هر کله چه دَ ملائکو او دَ انبیاء علیهم السّلام او دَ جنّاتو عجز او احتیاج ثابت شو نو معلومه شوه چه دوی دَ الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے او شفعاء قهریه هم نشی کیدے دا مراد دے دَ تسبیح نه -

رَبِّكَ کښ اشاره ده کمالِ رحمت دَ الله تعالیٰ ته په بندګانو صالحانو باندے -

رَبِّ الْعِزَّةِ اشاره ده کمال قدرت او غلبے دَ الله تعالیٰ ته -

سوال :- عزت دَ صفاتو دَ ذات نه دے لکه قدرت نو دَ ربّ اضافت هغه ته نه صحیح کیږي لکه رب القدرة صحیح نه دے ؟

جواب اول، چه رب په معنیٰ دَ مالك متصف دے یعنی موصوف دے په عزت سره !

جواب دویم دا دے چه عزة کله صفت دَ ذات وی لکه فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا او کله صفت دَ فعل وی دلته دویمه معنیٰ مراد ده یعنی عزتمند کیدل دَ بندګانو په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ وی لکه چه په دے

سورت کښې عزت دَ ملائکو او دَ انبیاء علیهم السّلام ذکر شو نو دا په اختیار دَ الله تعالیٰ کښې دے۔ وَسَلٰمٌ عَلَى الْمُرْسَلِيْنَ دا دعویٰ دَ سورت ده یعنی دَ انبیاء علیهم السّلام کمال دا دے چه هغوی له سلامتیا دَ عذاب دَ دُنیا او دَ اٰخرت نه الله تعالیٰ ورکوی۔ په عبارت کښې تقدیر دے سلام من الله تعالیٰ علی المرسلین۔

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ دا هم دعویٰ دَ توحید ده اشاره ده چه هلاکت دَ کافرانو او نصرت دَ پیغمبرانو چه په دے سورت کښې ذکر شو په دے بانداے دَ الله تعالیٰ حمد دے او دا نعمتونه دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه۔ معالم التنزیل کښې دَ علی رضی الله تعالیٰ عنه نه مرفوعًا نقل کړے دی چه څوک خوشحالیږی په دے خبره بانداے چه الله تعالیٰ هغه ته په پوره پیمانه بانداے دَ قیامت په ورځ کښې ثواب ورکړی نو دَ مجلس په اختتام کښې دِ دا درے اٰیاتونه او لولی او قرطبی دَ موځ په اختتام کښې روایت مرفوعه نقل کړیدے۔

(تفسیر دَ سورة صافات ختم شو په توفیق دَ الله تعالیٰ سره)

سُورَةُ صٓ ۳۸ مَكِّيَّةٌ ۳۸ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۸۸ رُكُوْعَاتُهَا ۵

صٓ وَالْقُرْاٰنِ ذِي الذِّكْرِ ﴿۱﴾ بَلِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

الله تعالیٰ دَ دے په مطلب ښهٔ پوهه دے، قسم دے په قرآن باندے چه نصیحت والا دے۔ بلکه کافران

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُورة صٓ مكيه۔

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو طریقو سره دے اوله طریقه دا ده، تیرشوی سورت کښ عجز او احتیاج دَ نیکانو بندګانو ذکر کړے شو نو په دے سورت کښ په هغوی باندے ابتلاءات ذکر کوی دَ پاره دَ دلالت په دے خبره باندے چه دوی شفعاء قهریه نشی کیدے. دویمه طریقه دا ده مخکښ سورت کښ دَ توحید نه استکبار دَ مشرکینو یې ذکر کړو نو په دے سورت کښ وجه دَ استکبار ذکر کوی. دریمه طریقه دا ده چه سورت صافات کښ ذکر دوه دَ براءت دَ عابدانو دَ یو بل نه په یو طریقه سره نو په دے سورت کښ ذکر کوی دغه براءت په بله طریقه سره۔

دعوىٰ دَ سورت۔ اثبات دَ توحید په ذکر دَ ابتلاءاتو سره په انبیاء او ملائک علیهم السلام باندے سره دَ ابتلاء نه په ابلیس باندے. او دعوىٰ دَ توحید ۶۵، ۶۶ کښ۔ او دا ابتلاءات تفصیلیه یې دَ پیغمبرانو باندے ذکر کړے دی اوله ابتلاء په پاره دَ اجتهادی خطایې کولو سره په احکام شرعیو کښ او هغه ګناه نه دے دویمه ابتلاء په ترک دَ انشاء الله تعالیٰ نسیاناً او هغه ګناه نه دے. دریمه ابتلاء بدنی او مالی دَ پاره دَ ابتلاء دَ صبر اګرچه هیڅ ګناه یې نه دے کړے. او دا درے انبیاء علیهم السلام دَ روم په علاقه باندے تیرشویدی اولنی دواړه دَ نبوت دَ صفت سره بادشاهان وو او دریم دَ صفت دَ نبوت سره مالدار وو۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته اول باب تر ۱۸ پورے دے په دیکښ اوله شهادت دَ قرآن کریم او تخویف ذکر کوی بیا زجر و نه په انکار دَ خلورو مقصدونو سره انکار دَ توحید او دَ رسالت او دَ قرآن او بعث بعد الموت نه او زجر دے په اسبابو دَ انکار سره او دَ تخویف دنیوی دَ پاره ذکر دے دَ اقوام مکذبو اجمالاً۔

فِيْ عِزَّةٍ وَّشِقَاقٍ ۝٢ كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ

په تکبر او دشمنئ کښې دي. ډير هلاک کړي دي مونږ مخکښې د دوی نه

مِّنْ قَرْنٍ فَنَادَوْا وَّلَاتَ حِيْنَ مَنَاصٍ ۝٣

پيړۍ نو چغې اووهلې هغوی او نه وو دغه وخت د خلاصۍ

وَعَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ ز وَقَالَ

او تعجب کوی دوی د دے نه چه راغلے دے دوی ته ويره ورکوونکے د دوی نه او اووئيل

تفسير

سـ ۲ :- صٓ د مقطعاتو نه دے او د دے په باره کښې مفسرينو ديارلس اقوال ذکر کړے دی ليکن غوره دا ده چه د دے په معنیٰ باندے الله تعالیٰ عالم دے او لوئے حکمت پکښې دليل او تنبيه ده په اعجاز د قران کريم باندے ذِي الذِّكْرِ يعنی مشتمل دے په بيان د توحيد او نوزو او امر او نواهی د د الله تعالیٰ باندے او جواب قسم کښې ډير اقوال دی او غوره دا ده (چه نيشته شريک او شفيع قهری د الله تعالیٰ لکه چه مشرکان گمان کوی) بيا ذکر کوی سبب د انکار د کافرانو چه هغه عزت او شقاق دے.

مراد د عِزَّتٍ نه ځان عزت مند گنړل او د هغے په وجه د حق منلو نه تکبر کول او شِقَاقٍ نه مراد د حق نه مخالفت کول په سبب د ضد او عناد سره او عِزَّةٍ وصف باطنی دے او شِقَاقٍ حالت ظاهری دے او دواړه ئے نکره راوړل د پاره د عظمت او د ډيروالی.

سـ ۳ :- دا تخويف د دیوی شقاق کوونکو ته روستو د زجر نه هغوی ته. فَنَادَوْا آوازونه اوچت کړل په توبه او استغفار کولو سره يا په فريادونو او مدد غوښتلو سره وَّلَاتَ بعض نحويانو ويلے دی دا لَا دے او تَا په کښې زياتی راغلے بنا په عادت د عربو سره لکه ثم کښې ثمت او قول د سيبويه دا دے چه لات مشابه د ليس سره دے او ضمير د اسم پکښې پټ دے يعنی ليس الحين.

مَنَاصٍ په معنیٰ د روستوالی د عذاب او په معنیٰ د تختيدلو او په معنیٰ د خلاصی سره دے.

الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ۝۴ اَجَعَلَ

کافرانو دا جادوګر ډیر دروغژن دے. ایا جوړ کړے دی دهٔ

الْاٰلِهَةَ اِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ

ډیر معبودانو لره معبود یو، یقینًا دا خیز

عُجَابٌ ۝۵ وَانْطَلَقَ الْمَلَاُ مِنْهُمْ اَنِ امْشُوْا

ډیر ناآشنا دے. او روانه شوه یوه ډله د دوی نه چه ځائے

وَاصْبِرُوْا عَلٰۤی اٰلِهَتِكُمْ ۚ اِنَّ هٰذَا لَشَیْءٌ

او کلک شئ په (ربندګئ) د خپلو معبودانو بانددے، یقینًا دا خاخا یو کار دے

سے :- دا تفصیل د تکبر او د شقاق د دوی دے او زجر دے په انکار د رسالت سره.
مُنْذِرٌ مِّنْهُمْ یعنی بشر دے د جنس د دوی نه تو دوی د هغه د رسالت نه تعجب
اوکړو لکه سورة یونس سے ۲ کښ دی. وَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ په دے لفظ کښ اشاره ده چه پیغمبر لره
دروغژن ګنړونکے یقینی کافر دے او مراد د کافر نه انکار کوونکے دے په ضد او عناد سره.
سٰحِرٌ نه مراد دهوکه ورکول په باطل د کلام سره یا جادو کوونکے دے او چه خلقو کښ
تفرقه اچوی په سبب د جادو کولو یا معجزے ته ئے نسبت د جادو کوو. كَذَّابٌ یعنی
په مسئله توحید کښ او په دعویٰ د نبوت کښ دروغژن دے.
سے :- دا زجر دے په انکار د توحید سره. اول ذکر د تعجب وو د دعویٰ د نبوت نه
سره د بشریت نه او دا تعجب دے د مسئلے د توحید نه اول تعجب کول خفیف وو نو په
صیغه د فعل سره ئے ذکر کړو او دویم تعجب ډیر ثقیل دے نو په صیغه د مبالغے
سره ئے ذکر کړو ځکه چه خلیل امام د لغت فرق کړے دے په صیغے د عجیب او د
عجاب کښ یعنی عجاب هغه شے دے چه د حد د تعجّب نه ئے تجاوز کړے وی.
مقصد دا دے چه مشرکانو د هر حاجت روا ئے د پاره او د هر قوم د پاره جُدا جُدا
معبود او حاجت روا جوړ کړے وو عقیده ئے داوه چه یو ذات دا ټول کارونه نشی
کولے او قیاس ئے کوو په مخلوق بانددے نو پیغمبر توحید ته دعوت ورکړو یعنی
ټول حاجتونه پوره کوونکے او د ټول مخلوق الٰه یو الله تعالیٰ دے نو دوی د دے
نه تعجب اوکړو او انکار ئے اوکړو، دا د دوی لویه بے عقلی او جهل دے.

يُرَادُ ۞ مَا سَمِعْنَا بِهٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ ۚ إِنْ

قصا کړے شوے دے۔ نه دی اوریدلے موږ دا په دین روستنی کښې ، نه دی
په

هٰذَآ إِلَّا اخْتِلَاقٌ ۞ ءَأُنْزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ

مګر دروغ جوړ کړیشوی ۔ آیا نازل کړے شوے په ده باندے وحی
دا

مِنْ بَيْنِنَا ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْ ذِكْرِي ۚ

د میڅ زموږ نه ۔ بلکه دوی په شک کښې دی د وحی زما نه

بَلْ لَّمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ۞ أَمْ عِنْدَهُمْ

بلکه تراوسه نه دے څکلے دوی عذاب زما ۔ آیا دوی سره

ف ۶ :۔ روستو د انکار د توحید نه په شرک باندے کلک کیدل ذکر کوی او د دے آیت په تفسیر کښې مفسرینو واقعه د قریشو د ابوطالب په مخکښې د نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کړے ده وَانْطَلَقَ الْمَلَأُ مِنْهُمْ یعنی د توحید د مسئلے په اوریدلو سره ئے نفرت ډیر شو او روان شو لکه چه سورة اسراء ۴۶ کښې تیر شویدی او انطلاق نه مراد په تلوار سره تلل دی ۔ امْشُوا مراد د دے نه د مجلس د توحید نه تلل دی یا روانیدل دی همیشه په لار د شرک باندے ۔ او زمخشری ویلی دی چه مراد د دے دا دے چه ګرځئ او ډیر راغونډ شئ د پاره د مقابلے د پیغمبر ۔ إِنَّ هٰذَا اشاره ده توحید ته یعنی د دے نبی مراد زموږ دا دے چه توحید او منو ۔ یا اشاره ده صبر کولو ته په شرک باندے یعنی د شرک کولو او په دے باندے د کلک پاتے کیدلو اراده کول پکار دی نو بنا په اول باندے تقدیر د عبارت دا دے لشئ یراد منا او په دویم باندے تقدیر یعنی ان یراد هذا فقط لا غیر ۔

ف ۷ :۔ دا وجه د تعجب او د انکار ده چه دوی د مشرانو نه دا مسئله نه ده اوریدلے الْمِلَّةِ الْاٰخِرَةِ مراد د دے نه عام دے یعنی د دوی مشران او دارنګ متأخرین نصاری ویهودیان ځکه چه دے ټولو د توحید نه انکار کړے وؤ او توحید ئے نه وؤ بیان کړے ۔ لکه او س زمانه کښې هم جاهلان وائی چه موږ مسئله د توحید او سنت) نه منو ځکه چه زموږ مشرانو ملایانو دا نه ده بیان کړے ۔

ف ۸ :۔ دا زجر دے په انکار کولو سره د قران نه ۔ مِنْ بَيْنِنَا یعنی د دے نه ډیر مشران او اشراف او مالداران شته په هغوی باندے دا وحی ولے نه نازلیږی نو سبب د انکار د دوی حسد او دنیا پرستی ده ۔

خَزَآئِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ⑨ أَمْ

خزانے دی دَ رحمت دَ ربِّ ستا چه قدرتور دے بخښش ورکوونکے دے.

لَهُمْ مُّلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

دوی لره بادشاهي دَ اسمانونو او زمکے او دَ مینځ دَ دے دواړو دے.

فَلْيَرْتَقُوْا فِي الْاَسْبَابِ ⑩ جُنْدٌ مَّا هُنَالِكَ

نو او دِ خیژی په اسباب (رسیو) کښې . دَ دوی لښکر دے نړدغه وخت په دغه ځای کښے

مَهْزُوْمٌ مِّنَ الْاَحْزَابِ ⑪ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

شکست دوی دَ جنس دَ عنادیانو دَ ډلو نه دی . تکذیب کړے وؤ مخکښ دَ دوی نه قوم

بَلْ هُمْ فِیْ شَکٍّ دَ دے ځائے نه رد دے په دے منکرینو باندے په څلورو طریقو سره اوله طریقه دا ده یعنی دوی خو دے نبی صلی الله علیه وسلم ته تراوسه پورے رښتنے او امین وئیلو لیکن هرکله چه دهٔ قران او مسئله دَ توحید شورو کړه نو دے خلقو دَ دهٔ نه انکار اوکړو دَ وجے دَ شک نه په توحید کښې . یعنی شک دَ توحید سبب دَ انکار دَ رسالت او دَ قران دے

بَلْ لَّمَّا یَذُوْقُوْا دا دویمه طریقه ده یعنی سرهٔ دَ انکار او دَ شک نه دوی ته مهلت ورکړے شوے دے او عذاب وریاندے نه دے راغلے نو دوی خیال کوی چه مونږه په حقه لار باندے روان یو .

سـ۹ :۔ دا دریمه طریقه ده یعنی ذکر نازلیدل رحمت دَ الله تعالی دے نو آیا دَ رحمت خزانے دَ دوی په اختیار کښې دی چه دوی وائی چه دے رسول لره رسالت پکار نه وؤ او دا سے په سورة زخرف ۳۲ کښې هم راځی . اَلْعَزِیْزِ کښې اشاره دهٔ چه دا خزانے دَ الله تعالی نه هیڅوک په زور نشی اخستلے او چالره چه دَ دے رحمت نه څه حِصّه ورکړیده نو دا دَ چا زور نه دے بلکه په هبه (بخښش) سره یئے ورکړیده ځکه چه الوهاب دے .

سـ۱۰ :۔ دا څلورمه طریقه دَ رد ده یعنی که چرے دَ دوی سره بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے وی او دوی خو اسمانونو نه نازلیږی نو دوی دِ بره اسمانونو ته او خیژی او وحی نازلیدل په دے پیغمبر باندے دِ بند کړی . اَلْاَسْبَابِ هر هغه څیز چه بل څیز ته رسول کوی نو هغے ته سبب وئیلے کیږی که دروازه وی او که لارے وی نو مراد تریئے دروازه او لارے دَ اسمانونو دی . او لفظ دَ اسباب کښې اشاره ده چه دَ اسمان څیزونه نمر، سپوږمۍ، ستوری او وریځے وغیره الله تعالی اسباب گرځولے دی دَ پاره دَ تاثیراتو په حکمت عالم کښې .

سـ۱۱ :۔ په دے کښې تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په اهلاک دَ ریاسے په بل مخ)

نُوحٍ وَّعَادٌ وَّفِرْعَوْنُ ذُو الْاَوْتَادِ ﴿۱۲﴾ وَثَمُودُ وَقَوْمُ

د نوح علیه السلام او عادیانو او فرعون میخونو والا او ثمودیانو او قوم

لُوطٍ وَّاَصْحٰبُ لْـَٔيْكَةِ ۚ اُولٰٓئِكَ الْاَحْزَابُ ﴿۱۳﴾ اِنْ

د لوط علیه السلام او بڼې والو ، دغه وو عنادیان ډلې ډلې . نه وو

كُلٌّ اِلَّا كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ﴿۱۴﴾

دا ټول مګر تکذیب یې کړے وؤ د رسولانو نو یقیني راغے په دوی باندې عذاب زما.

قریش مکّه سره یعنی زر ده چه دوی به په دغه ځائے کښې (چه مکه ده) چه دوی په هغې کښې انکار کوی شکست خورده شي نو د دوی په دے انکاري خبرو باندے پرواه مه کوه. جُندٌ خبر د مبتدا محذوف دے یعنی هم جُندٌ لفظ ما صفت د جند دے د پاره د تحقیر یعنی معمولی لښکر دے. هُنَالِكَ صفت ثانیه د جند دے یعنی دا سے لښکر دے چه په مکّه مکرّمه کښې او سیږی یا ظرف دے د مهزوم د پاره او مهزوم صفت دے د پاره د جند یعنی شکست به ورکړے شي دوی ته په دغه ځائے کښې کوم ځائے کښې چه د انکار خبرے کوی چه هغه مکّه ده او دا دلیل دے چه په دے ایت کښې مراد فتح د مکے دے چه دوی په خپل کلي کښې شکست اومندلو. مِنَ الْاَحْزَابِ دا هم صفت د جند دے یعنی د جنس د هغه چانه دی چه د انبیاء علیهم السّلام په مخالفت کښې یه یئے ډله بازی او تعصب کوؤ.

۱۲ ۱۳ ۱۴ :- دا تخویف دنیوی په ذکر د قومونو تیر شوؤ سره دے چه هغوی تکذیب کړے وؤ د مسئلے د توحید نه پشان د تکذیب د موجوده کسانو او لکه چه هغه قومونه خپلو مرادونو ته نه وو رسیدلی نو دا موجوده هم نشي رسیدلے او لکه چه هغوی په مختلفو عذابونو سره هلاک کړے شول نو دوی به هم په یو عذاب سره هلاک کړے شي. او دوی خپل خپل مختلف قوّتونه د پیغمبرانو په خلاف کښې استعمال کړے وو لیکن هیڅ مقصد ته او نه رسیدل. دا سے ذکر په سورة ق ۱۲ کښې هم شته لیکن په دے سورت کښې د دغه قومونو قوّتونو او په مختلف طریقو سره د انبیاء علیهم السّلام سره مقابلے کول مراد دی نو د دے وجے نه لفظ الاحزاب یئے ذکر کړو او ترتیب د قوّتونو ته یئے اشاره اوکړه قوم د نوح علیه السّلام کښې کثرت سرکشي، عادیانو کښې قوّت د بدنونو، فرعونیانو کښې قوّت د بادشاهۍ او کثرت ظلم کول او ثمودیانو کښې قوت د کاریګرئ (صنعت کاری) او قوم د لوط علیه السّلام کښې قوّت جهل او خباثت او اصحاب الایکة کښې قوّت مالی او تجارت وؤ د دے قوتونو په سبب یئے تکذیب کړے وؤ او د انبیاؤ علیهم السّلام مقابلے یئے کولے. ذُو الْاَوْتَادِ د فرعون د یر ظلم ته (پاتے په بل مخ)

وَمَا يَنظُرُ هَٰؤُلَاءِ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً

او انتظار نه کوی دا خلق مگر دَ چغې يوې

مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ ﴿۱۵﴾ وَقَالُوا رَبَّنَا عَجِّل

چه نيشته هغې ته هيڅ ايسارېدل . او دوی وائي اے ربه زموږه زر راکړه

لَّنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۱۶﴾ اصْبِرْ

موږ له برخه زموږ مخکښې دَ ورځې دَ حساب نه . صبر کوه

اشاره ده چه چالره به ئې سزا ورکوله ییا خاص موحدینو ته نو په لاسونو اوخپو باندے ئې ورله میخونه ټک وهل او قوّت دَ بادشاهئ ته هم اشاره ده ځکه چه دَ میخونو خاوند ویلے کیږی مضبوط او محکم نه

سٓ۱۵ :- دا تخویف اخروی ذکر کوی روستو دَ تخویف دنیوی نه او په دَ کښې زجر هم دے په انکار دَ قیامت سره صَيْحَةً وَاحِدَةً مراد تربیته اوله شپیله وهل دی دَپاره دَ فنا دَ عالم لکه سورة یٓسٓ سٓ۴۹ کښې ذکر شویدی یا مراد تربیته چغه دَ عذاب دَ دنیا ده چه په هغې سره به یو ځل باندے هلاک کړیشی . مَا لَهَا مِن فَوَاقٍ

فَوَاقٍ په اصل کښې دا دے چه اوښه یا غوا لنکه یو ځل اولشی بیا ورته بچے پریږدی دَپاره دَدے چه نور پئ را پریږدی نو دوباره ئې اولشی نو مراد دا دے چه دا شپیلے چه شورو شی نو په مینځ کښې به وقفه او دمه کول نه وی بلکه اوګده او ممتده به وی . یا مراد دا دے چه دوی له به مهلت نشی ورکیدلے په مقدار دَ فواق سره لکه چه تیر شویدی فاذا جاء اجلهم لا یستأخرون ساعة ولا یستقدمون .

سٓ۱۶ :- دا هم زجر دے په استهزا کولو دَدوی په قیامت پورے - قِطَّ ټکړے دَ څیز ته ویلے کیدیشی یعنی برخه او کتاب او روزئ وغیره ته شامل دے . یعنی دوی ویل چه حِصّه دَ نعمتونو دَ جنّت موږ له په دنیا کښې راکړه یا حِصّه دَ عذاب زموږ په دنیا کښې راکړه لکه چه سورة انفال سٓ۳۲ کښې تیر شویدی یا عملنامه زموږ په دنیا کښې را کړه او دا ټول په طریقه دَ استهزا سره به دوی ویل .

عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاذْكُرْ عَبْدَنَا دَاوٗدَ

په هغه چه دوی وائی او یادکړه بنده زمونږ داؤد علیه السّلام

ذَا الْاَيْدِ ۚ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۱۷﴾ اِنَّا سَخَّرْنَا

مست والا وؤ یقینًا دے ډیر رجوع کوونکے وؤ الله تعالیٰ ته ـ یقینًا مونږ تابع کړی وو

ک۱۔ دَدے ایت نه دویم باب دے تر ۶۹ پورے په دے کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په ذکر کولو دَ درے ابتلاءاتو سره په درے انبیاء علیهم السّلام باندے خصوصًا او تفصیلًا او په شپږو باندے اجمالًا۔ او روستو دَ ذکر د ابتلاء اوّل ته زجرونه دی۔ او روستو دَ بحث دَ ابتلاءاتو نه بشارت او تخویف اخروی تفصیلی دے او په اخر دَدے باب کښ دعوی دَ توحید ده۔ په دے رکوع) کښ اولًا امر دے په صبر کولو سره روستو دَ ذکر کولو دَ څلورو انکارونو دَ منکرینو نه۔ او بیا امر دے په ذکر دَ انبیاء علیهم السّلام سره یعنی لکه چه په دغه انبیاء علیهم السّلام (داؤد او سلیمان او ایوب) علیهم السّلام باندے سره دَ بادشاهئ او مالدارئ او نبوت دَدوی نه ابتلاءات راغلی وو لیکن هغوی صبر کړے وؤ نو ته هم صبر کوه۔ یا دا چه دوی دَ توحید نه انکار کوی او وائی چه بزرګان زمونږ شفعاء دی نو په دے کښ ذکر کوی چه په دے بزرګانو باندے ابتلاءات راغلی وو او په چا باندے چه ابتلاءات راځی نو هغه شفیع قهری په الله تعالیٰ باندے نشی جوړیدلے۔

فائده :۔ دا ابتلاءګانے درے قسمه دی اول قسم په باره دَ تعلق دَ بندګانو سره په باره دَ شرعی فیصلو دَ هغوی۔ دویم قسم په باره دَ تعلق بالله تعالیٰ په ترک دَ انشاء الله تعالیٰ (چه ذکر الٰهی دے) او دریم ابتلاء په باره دَ نفس خپل کښ په مصیبتونو بدنی او مالی سره۔ دَ ابتلاء ذکر کولو نه روانده مدحه په ذکر دَ اوصافو عالیو دَ داؤد علیه السّلام سره کوی اشاره ده که ډیرے لوئے بندګان وی لیکن دَ ابتلاءاتو نه نشی بچ کیدلے۔ نو په دے ایت کښ درے صفتونه دَ داؤد علیه السّلام ئے ذکر کړیدی ۱۔ عبدنا مراد ترینه عبدیت خاصه دے۔

۲۔ ذَا الْاَيْدِ۔ اَيْدِ اسم مصدر دے قوت ته ویلے کیږی مراد ترینه قوت دَ عبادت دے چه حدیث کښ وارد دی "چه ډیره محبوبه طریقه په روژو

الْجِبَالَ مَعَهُ يُسَبِّحْنَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِشْرَاقِ ⑱

غرونه د ده سره تسبیح به ئې ویله بیګائی او د نمر ختلو په وخت کښې.

وَالطَّيْرَ مَحْشُورَةً ۖ كُلٌّ لَّهُ أَوَّابٌ ⑲

او مارغان راغونډ کړے شوے وو ټول وو هغه ته راګرځیدونکی.

کښې روژے دَ داؤد علیه السّلام وے یو ورځ به ئې روژه نیوله او بله ورځ به ئې افطار کاؤ او ډیره محبوبه طریقه په مونځونو کښې طریقه دَ داؤد علیه السّلام وه ترنیمې شپې به ئې خوب کاؤ بیا به دریمه حِصّه دَ شپې مونځ کاؤ بیا به آخری شپږمه حِصّه کښې ئې آرام کاؤ" یا مراد ترینه قوّت دَ بادشاهۍ دَ هغه دے ۳ اِنَّهٗٓ اَوَّابٌ هغه چاته اواب وائي چه هرکله یوګناه کول ئې په زړه کښې تیرشی نوزر استغفرالله اوائي یائې ګناه کړےوی او توبه ئې ترینه ویستلے وی لیکن هرکله چه هغه ګناه ورته وریاد شی نوبیا استغفار غواړی۔

۱۸:۔ په دے آیت کښې دَ هغه څلورم صفت دے په طریقه دَ معجزے سره یعنی غرونه چه په مخلوق کښې ډیر سخت مخلوق دے لیکن هرکله چه داؤد علیه السّلام به تسبیح ویله یا به ئې زبور تلاوت کاؤ نو غرونو به ورسره هم تسبیح او تلاوت دَ زبور کوؤ۔ بِالْعَشِيِّ وئیلے کیږی روستې نصف دَ ورځے ته مازیګر، ماښام او ماسخوتن پکښې داخل دی۔ اِشْرَاقِ په دے کښې صلوة الاشراق (چه هرکله نمر یو نیزه دوه نیزے دَ غرونو نه رااوچت شی) ته اشاره ده او دارنګ اشاره ده صلوة الضحیٰ ته چه هغې ته صلوة الاوابین هم وئیلے کیږی۔ او څوک چه دَ ماښام نفل مونځ ته صلوة الاوابین وائي دا صحیح نه ده۔

۱۹:۔ دا بل معجزانه صفت دے۔ لَهٗ ضمیر راجع دے داؤد علیه السّلام ته یعنی د وجے دَ تسبیح دَ هغه نه یا ضمیر راجع دے الله تعالیٰ ته دَ اَوَّابٌ سره متعلق دے او كُلٌّ لَّهٗ اَوَّابٌ په اوله معنیٰ صفت دے دَ داؤد علیه السّلام او مرغان په مخلوق کښې ډیر نرم زړه والا دی نو مقابل دی دَ غرونو۔ یعنی ډیر سخت او ډیر نرم دواړه دَ هغه سره یوځائے تسبیح ویلو کښې ملګری وو۔

وَشَدَدْنَا مُلْكَهٗ وَاٰتَيْنٰهُ الْحِكْمَةَ وَفَصْلَ

او ټینګه کړې وه موږ بادشاهي د دهٔ او ورکړې وه موږ هغه ته پوهه د دین او فیصله کول د

الْخِطَابِ ﴿٢٠﴾ وَهَلْ اَتٰىكَ نَبَؤُا الْخَصْمِ

خبرې۔ او ایا راغلې دې تا ته خبر د جګړه کوونکو

اِذْ تَسَوَّرُوا الْمِحْرَابَ ﴿٢١﴾ اِذْ دَخَلُوْا عَلٰى

کله چه اوختل دوی په دیوال د عبادت خانې باندې کله چه داخل شول په

دَاوٗدَ فَفَزِعَ مِنْهُمْ قَالُوْا لَا تَخَفْ ج

داؤد علیه السلام باندې نو ګبراؤ شو د دوی نه دوی اُوویل مه وېرېږه۔

سلا ۲۰ :۔ په دې ایت کښ د هغه نور درې صفتونه ذکر کوی ۱ شَدَدْنَا مُلْكَهٗ۔ مُلْك کثرة د مِلکیت کښ استعمالیږی د دهٔ لښکرې ډیرې وې او هیبت او رعب ئې په خلقو باندې وؤ او ورسره تائید او نصرتِ الهیه هم وؤ ۲ وَاٰتَیْنٰهُ الْحِکْمَةَ علم د کتاب الله او د سنت۔ معرفة د دقائقو او لطائفو په نصوصو او احکامو شرعیو کښ ۳ فَصْلَ الْخِطَابِ دا لفظ شامل دې مختصر او جامع کلام ته او د حمد و صلوٰة نه روستو کلمه د اَمَّا بَعْدُ ته هغه علم کامل ته چه د مدعی او مدعا علیه تر مینځه فیصله کولې شی۔ او په دې باره کښ مفسر قرطبی واقعات د علی رضی الله عنه او د امام ابو حنیفه رحمة الله نقل کړې دی۔

سلا ۲۱ :۔ روستو د ذکر د صفاتو د داؤد علیه السلام نه چه دلالت کوی د هغه په عزت د لوئې باندې ذکر کوی ابتلاء د هغه او بیا رجوع د هغه الله تعالیٰ ته۔ هَلْ استفهام دې لیکن مراد ترینه ترغیب ورکول دی اوریدلو د مابعد واقعې ته۔ الْخَصْمِ دا اسم جنس دې مفرد تثنیه او جمع مذکر او مؤنث ټولو ته عام دې۔ اِذْ تَسَوَّرُوا تثنیه ته ضمیر د جمع راجع کول هم جائز دی۔ او دا د سور نه ماخوذ دې په معنیٰ د دیوال د قلعې دې۔ الْمِحْرَابَ په شرع د بنی اسرائیلو کښ د خاص بندګانو د عبادت ځائې په مستقل او جدا وؤ هغې ته به ئې محراب ویل او محراب ئې ته دې وجې نه ویل چه هغه مکان د مقابلې کولو د شیطان وؤ او دا سې سورة ال عمران کښ تیر شویدی۔

خَصْمٰنِ بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ فَاحْكُمْ

موږ دعویداران یو په یو بل باندے، زیاتے کړے دے یو په بل باندے تو فیصله اوکړه

بَيْنَنَا بِالْحَقِّ وَلَا تُشْطِطْ وَاهْدِنَآ اِلٰى سَوَآءِ

زموږ په مینځ کښ حقه فیصله او دَ حد نه زیاتے مکوه او خود نه اوکړه موږ ته دَ برابر

الصِّرَاطِ ﴿۲۲﴾ اِنَّ هٰذَآ اَخِىْ لَهٗ تِسْعٌ وَّ

لارے . یقینًا دا زما رور دے دهٔ لره یو کم

تِسْعُوْنَ نَعْجَةً وَّلِىَ نَعْجَةٌ وَّاحِدَةٌ

سل ګډے دی او زما یوه ګډه ده

۲۲ :. هر کله چه دروازے دَ عبادت خانے بندے وے او دا کسان (خصمان) فیصلے ته محتاج وو نو دوی مجبورًا په دیوال باندے را اوختل .

فَفَزِعَ مِنْهُمْ په نا اشنا طریقه باندے بے اجازته داخلیدل ضرور سبب دَ ویرے او دَ ګیراهټ وی .

فَزَعَ دے ته ویلے کیږی چه دَ ویرے اثار په ظاهر بدن باندے ښکاره شی هر کله چه دوی دَ اثارو نه معلومه کړه چه دے زموږ په وجه او یریدلو چه کیدیشی دا په دشمنان وی نو هغوی اوّل تسلی ورکړه په لَا تَخَفْ سره او بیا ئے خپل حال پیش کړو چه خَصْمٰنِ مراد تثنیه مدعی او مدعا علیه دی او اجمالی سبب دَ خصومت ئے ذکر کړو په دے قول سره بَغٰى بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ . بَغٰى دَ بل حق باندے ظلمًا تعدّی کولو ته ویلے کیږی .

فَاحْكُمْ بَيْنَنَا په دے کښ طلب دَ فیصلے دَ انصاف دے او دا دَ خصمانو عادت وی چه دَ تاکید دَ پاره دَ حاکم نه تعدیل مطالبه کوی اګر چه هغه پوره عادل وی وَاهْدِنَآ په دے کښ اشاره ده چه روستو دَ فیصلے کولو نه موږ ته داسے اداب اوخیه چه اَئنده دَ پاره جنګ نه پیدا کیږی او دا دَ هوښیار حاکم طریقه وی .

فَقَالَ اَكْفِلْنِيْهَا وَعَزَّنِيْ فِي الْخِطَابِ ﴿۲۳﴾

نو دے وائی دا ماته اوسپاره او زور اور دے په ما باندے په خبرو کښں۔

قَالَ لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى

اوئیل هغه یقینًا دهٔ ظلم کړے دے په تا باندے په سبب دَ طلب کولو دَ ګډے ستا

نِعَاجِهٖ ؕ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ الْخُلَطَآءِ لَيَبْغِيْ

ګډو خپلو ته او یقینًا ډیر دَ شرکت کوونکو نه خامخا ظلم کوی

بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ اِلَّا الَّذِيْنَ

بعضے دَ دوی په بعضو باندے مګر هغه کسان

اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ؕ

چه ایمان ئے راوړے دے او عمل ئے کړیدے په موافق دَ سنت سره او لږ دی دوی

وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ

او ګمان اوکړو داؤد علیه السّلام چه یقینًا امتحان کړے دے موږ په دهٔ باندے نو بخنه ئے اوغوختله دَ رب خپل نه

وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ ﴿۲۴﴾ السجدة فَغَفَرْنَا لَهٗ

او پریوتلو رکوع کوونکے او اوګرځیدو الله تعالیٰ ته ۔ نو بخنه اوکړه موږ دهٔ ته

ف۲۳:۔ دا تفصیل دَ خصومت دے او تیر شوی ایت کښں دَ خصمانو شریک بیان وو او په دے ایت کښں دَ یو خصم بیان دے نو لفظ قال احدهما پکښں مقدّر دے او دا مدعا علیه دے ځکه چه هغه بل خصم دَ دهٔ په یوه ګډه باندے دعویٰ کړیده او دے تر یته منکر دے اَخِیْ رور نسبی وو یا دینی وو دواړه احتماله شته. وَعَزَّنِیْ فِی الْخِطَابِ وجه دَ غلبے په خبرو داده چه هغه فصیح او چالاک وو یا دَ مالدارے دَ وجے نه غالب او زوراور وو۔
ف۲۴:۔ مفسر قرطبی دَ ابو عبدالله حلیمی نه نقل کړے دے چه داؤد علیه السّلام په شکایت کوونکی کښں اثار دَ کمزورے اولیدل نو یقین ئے راغے چه دے مظلوم دے او دا سبب اوګرځیدلو دَ دے خبرے چه دَ هغه بل خصم نه ئے هیڅ تپوس اونکړو او دَ عجلت نه ئے کار واخستلو او فیصله ئے اوکړله. لَقَدْ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعْجَتِكَ اِلٰى نِعَاجِهٖ او هغه بل باندے په بل مخ

ذٰلِكَ ۭ وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ

دَ دغه خبرے | او | یقینًا | دهٔ لره | زمونږ سره | خاځا نږدے والے | او ښایسته ځائے

ته ئے ظالم اوئیل او دا مصداق دَ فتنے دے چه روستو ذکر کیږی ځکه دا سے عجلت دَ نبی دَ شان سره مناسب نه دے بلکه دَبل جانب نه تپوس کول ضروری وو۔ لیکن نعمت دَ الله تعالیٰ ورسره دا اوشو چه بغیر دَ نسبت دَ ظلم نه ئے نوره سزا او عقوبت هغه ته ورنه کړو او دَ دے نعمت په شکریه کښ داؤد علیه السلام سجده کړیده او دَ دے وجے حدیث کښ وارد دی چه داؤد علیه السلام دا سجده دَ شکر کړے ده او مونږه ئے دَ هغه دَ اقتدا دَ وجے نه کاو۔ دا روایت قرطبی ذکر کړیدے لیکن صحیح روایت دا دے چه داؤد علیه السلام دا سجده دَ توبے په طور کړیده او مونږ په دَ شکر په طور سره کوو او دَا ابن کثیر په روایت دَ امام نسائی سره نقل کړے دے او وئیلی دی چه دا سند صحیح دے۔ وَاِنَّ كَثِيْرًا په دسره زجر ورکوی دے مدعا علیه ته اشارهٔ چه تا وَلے دَ دے سړی سره چل مال کړ کړے دے ځکه چه مال کړیده وَل اکثر سبب دَ بغی جوړ شی او دا په تجربے او په تعامل دَ خلقو سره ثابته خبره ده۔ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په دے کښ اشاره ده مانع دَ بغی ته سرهٔ دَ اختلاط نه یعنی چه کمال دَ ایمان وی نو بیا په هیڅ حالت کښ په یو بل باندے ظلم نه کوی په دے کښ زور نه دَ دواړو ته چه تا سو کښ په دَ ایمان نقصان وی دَ دے وجے نه یو بل سره جګړے کوئے۔ وَقَلِيْلٌ مَّا هُمْ ما دَ پاره دَ تاکید دَ قلت دے او دا سے سورهٔ سبا ۱۳ کښ هم دی. مفسر قرطبی لیکلی دی چه عمر رضی الله تعالیٰ عنه دَ یو سړی نه په دعا کښ واوریدل اللهم اجعلنی من عبادك القليل هغه ورته اوئیل چه دَ دے دعا څه مطلب دے نو هغه سړی په دے ایت سره جواب ورکړو۔ وَظَنَّ دَاوٗدُ اَنَّمَا فَتَنّٰهُ مصداق دَ فتنے تعجیل کول وی په فیصله کښ لکه چه اوس تیر شول او مراد ترینه خطا کیدل دی په سبب دَ عجلت کولو سره اګرچه دا معصیت نه دے ځکه چه دَ هغه په شرع کښ دا واجب نه وه چه دَ بل جانب نه دِ تپوس کیدے شی لیکن مناسب وه نو دا ترك اولیٰ دے چه انبیاء علیهم السلام په دے باندے هم خفه کیږی ځکه چه حسنات الابرار (باقی په بل مخ)

مَاٰبٍ ﴿۲۵﴾ یٰدَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِیْفَةً

(اے داؤد یقینًا مونږ گرځولے یې ته خلیفه (فیصلے کوونکے) دَ راتلو دے.)

سیئات المقربین یعنی دَ عامو نیکانو یو جایز کار دَ خاص بندګانو په نسبت بدګڼلے کیږی۔ یا مصداق دَ فتنے دا وو چه داؤد علیه السّلام خپل اوقات تقسیم کړے وو چه یو ورځ به یې فیصلے دَ خلقو کولے او دویمه ورځ به یې عبادت خانه کښی خلوت نشینی کوله دَپاره دَ عبادت دَ الله تعالیٰ او دا دَ هغه اجتهاد وو لیکن په دے واقعے سره الله تعالیٰ هغه ته تنبیه ورکړه چه هر کله ستا دَ عبادت په ورځ دَ جاجکړه راشی او فیصلے شرعی ته محتاج وی نو دا فیصله په خوک کوی او حال دا چه دَ شرعی فیصلے کولو ثواب او اجر دَ نفلی عبادتونو نه بهتر دے لکه چه ابن کثیر دَ امام احمد په سند سره حدیث نقل کړے دے چه "الله تعالیٰ ته ډیر محبوب دَ خلقو نه او ډیر نیزدے په اعتبار دَ مجلس سره امام عادل دے"۔ او دا رنګ حدیث دَ سبعة یظلهم الله کښی اول شخص امام عادل ذکر کړے دے نو دَ تنبیه دَ الله تعالیٰ نه داؤد علیه السّلام ته معلومه شوه چه دا تقسیم زما دَ طرف نه مناسب نه دے او دا خلاف اولیٰ دے. دَ دے وجے نه ګمان یې اوکړو چه ځه په فتنه کښی واقع شوم. فَاسْتَغْفَرَ رَبَّهٗ استغفار دَ انبیاؤ علیهم السّلام دَ ګناه نه نهٔ وی ځکه چه هغوی معصوم دی لیکن دا استغفار تعبدًا دی یعنی ځان دَ الله تعالیٰ خاص بنده اوګڼړی او بعضے حالات خپل مناسب او نه ګڼړی نو دَ هغے نه توبے اوباسی. وَخَرَّ رَاكِعًا وَّاَنَابَ. رکوع په معنیٰ دَ سجدے ده په دلیل دَ لفظ دَ خَرَّ سره او په لغت کښی رکوع او سجود دواړه په معنیٰ دَ انحناء سره راځی دَ دے وجے نه دَ یو بل په معنیٰ سره استعمالیږی یا دا چه اول په رکوع شو نو بیا په سجده کښی ورپریوتو یعنی دَ حالت دَ رکوع نه په سجده کښی ورپریوتلو۔

۲۵:۔ اوله نتیجه دَ استغفار ده او دویمه نتیجه دَ سجدے کولو ده او دریمه نتیجه دَ انابت الے الله تعالیٰ ده۔

فائده:۔ دَ دے ایت په تفسیر کښی اکثر مفسرینو قصه دَ اوریا دَ ښځے ذکر کړیده او په هغے کښی دَ دوی څلور اقوال دی۔

اول قول دا دے چه داؤد علیه السّلام یو ځل یو مرغے پسے تیره او ختلو نو دَ اوریا ښځه یا ئی نظر او لګیدلو او هغے غسل کوو نو دَ دهٔ ورسره

فِی الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ

په ملک کښې نو فیصله کوه په مینځ دَ خلقو کښې په حق سره

محبّت پیدا شو بیا یٔ عزم اوکړو چه اوریا په یو ذریعه قتل کړیشی نو سختو محرکو ته یٔ لیږلو اخر هغه قتل کړے شو دَ عدت دَتیریدلو نه روستو دَ هغې سره یٔ نکاح اوکړو او سلیمان علیه السّلام ترینه پیدا شو نو الله تعالی ملائک په شکل دَ خصمان را اولیږل دَ یاره دَ تنبیه داؤد علیه السلام ته چه ستا یو کم سل ۹۹ ښځے شته او بیا هم دَ اوریا دَ ښځے په طمع کښې دِ ظلم اوکړو نو هغه توبه اویستله (العیاذ بالله)۔

دویم قول دا دے چه دَ دهٔ دَ هغه ښځے سره محبت بے اختیاره پیدا شو نو زړه کښې یٔ اراده اوکړه چه اوریا مړ شی یا قتل شی نو دا ښځه به زه په نکاح باندے واخلم اګرچه دَ هغه دَ قتل اراده یٔ نه وه کړے

دریم قول دا دے چه دهٔ دَ اوریا نه طلب اوکړو چه دا ښځه دِ ماته پریږده نو هغه طلاق ورکړل او دهٔ ورسره نکاح اوکړو او دا عادت وؤ په هغه زمانه کښې۔

څلورم قول دا دے چه دَ دغه ښځے خطبه (غوښتنه دَ نکاح) اوریا کړے وه لیکن داؤد علیه السّلام بغیر دَ پوس نه دَ هغه دَ پاسه خطبه اوکړه او هغه خلقو داؤد علیه السلام ته ورکړه۔ لیکن دا اقوال باطل دی په دے کښې نسبت دَ ګناه کبیره یا صغیره یا وهم او شبه دَ ګناه راځی په داؤد علیه السّلام باندے او انبیاء علیهم السّلام دَ داسے امورونه معصوم دی دَ قول اول ابطال په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه الله تعالی امر کړے دے زمونږ نبی صلّی الله علیه السلام ته دَ قصے په سر کښې اصبر او اذکر سره یعنی دَ داؤد علیه السلام پشان صبر اوکړه او دا واقعات دَ صفت دَ صبر نه خلاف دی۔ دویمه وجه تیر شوی نهه صفتونه دَ هغهٔ چه ذکر شویدی نو هغه قول دَ دے واقعے سره منافات لری لکه چه امام رازی تفسیر کبیر کښې تفصیل کړے دے۔ دریمه وجه دا ده چه دَ دے واقعے په سند کښې یزید الرقاشی دے او ابن کثیر ویلے دی چه دا یزید اګرچه دَ صالحینو نه دے خو په حدیث کښې ضعیف دے او دا واقعه دَ اسرائیلیاتو نه ده۔ څلورمه وجه دا ده قرطبی ویلے دی چه اکثر دَ دے راویانو نه صحیح او متصل الاسناد نه دی

وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

او تابعداری او نکړے دَ خواهش تو وایه پروی تا لره دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه

او نه دی مناسب چه بغیر دَ صحت دَ هغې نه په داسے خبرو باندے څوک جراءت اوکړی ـ پنځمه وجه په دے کښ نسبت دَ عزم دَ قتل دَ مسلمان او محبت او عشق دَ پردے زنانه سره پیغمبر ته منسوب دی او انبیاء علیهم السلام دَ گناهونه قبل النبوة او بعد النبوة معصوم او پاک دی او دا مسئله تفصیلاً په خپل ځائے کښ راځی او ابو حیان اندلسی په تفسیر البحر المحیط کښ په دے مقام کښ ذکر کړیدی چه قطعًا معلومه ده چه انبیاء علیهم السلام معصوم دی دَ خطایانه امکان نه لری چه دوی په گناهونو کښ واقع شی ځکه چه دا گناهونه کول دَ انبیاؤ نه صادر کیدل امکان اولری نو شریعتونه به باطل شی او دَ دوی په وحی باندے اعتماد باقی نه پاتے کیږی (ص ۳۹۳). شپږمه وجه دا ده حارث الاعور او سدی دَ علی رضی الله عنه نه روایت کړے دے چه دا واقعه په داسے طریقه بیان کړه لکه چه قصاصان یئے بیانوی او په دے باندے عقیده لری نو هغه په زه یو سل اوشپیته دُرّے اوهم ردا روایت اگرچه دَ سند په لحاظ سره ضعیف دے لیکن دَ تیر شوے وجوهو دَ تائید دَ پاره مفسرینو ذکر کړیدے ـ اومه وجه دا ده چه دا قصه په قرآن او په حدیث صحیح مرفوع کښ نیشته نو څه باعث دے چه دَ قرآن ظاهر لره پریږدو او دا قصه تفسیر اوگرځوو ـ اتمه وجه دا ده چه په دے توجیها تو کښ دَ پیغمبر دَ بیبیانو تشبیه ورکول دَ گډو سره بے ادبی ده او دا وینا دَ ملائکو چه خصمان بغی بعضنا علی بعض هم تاویل ته محتاج دے بغیر دَ ضرورت نه تاویلونه په کلام الله تعالیٰ کښ بے مناسبه کار دے ـ دویم قول په دے وجه باطل دے چه په هغې کښ هم نسبت دَ محبت غیر شرعی دے پیغمبر ته او اخری وجه (چه مخکښ ذکر شوه) هغه هم پکښ ده ـ دریم قول او خلورم قول هم په اخری وجے سره باطل دی او ابن کثیر لیکلی دی چه دَ قرآن کریم ایاتونه په ظاهری معنیٰ باندے جاری کول پکار دی دَ دغه قصو نه پکښ پرهیز کول ضروری دی ـ بیا پوهه شه چه دَ اوریا دَ قصے نه علاوه مفسرینو وجه دَ فتنے او ابتلاء په درے طریقو سره

إِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

يقينًا هغه كسان چه اوړی د لارے د الله تعالیٰ نه

لیکلے دہ ۔ اوله طریقه داده چه دا دوه کسان دَ فیصلے دَپاره په دیوال باندے راوړیدل نو داؤد علیه السّلام په دوی باندے گمان اوکړو چه دوی زما دَ قتل دَپاره راغلے دی ځکه چه دَ هغه دشمنان هم په هغه وخت کښ موجود وو هرکله چه پس دَ فیصلے نه هغوی واپس لاړل نو معلوم شوه چه په دغه گمان کښ داؤد علیه السّلام خطا شوے وؤ دے خطا کیدلو ته ئے فتنه اوویل او استغفار ئے او غوښتلو دا طریقه دَ قرآن دَ ظاهر سره ښه مناسب ده ۔ دویمه طریقه محکیش مونږ ذکر کړیده چه داؤد علیه السّلام دَ ورځو تقسیم کړے وؤ او دا تقسیم کول الله تعالیٰ ته خوښ نه وؤ نو دا واقعه ورباندے راوستله چه داؤد علیه السّلام پوهه شی چه دا تقسیم کول مناسب کار نه دے او دیته ئے فتنه اوویل دا طریقه هم دَ قرآن دَ ظاهر سره مناسبت لری بغیر دَ څه تاویل کولو نه ۔ دریمه طریقه هم محکیش ذکر کړے شویده چه داؤد علیه السّلام دَ یو شخص په بیان سره په یل باندے فیصله اوکړه عجلت ئے اوکړو لیکن دَ علاماتو ظاهریو دَبیان کوونکی نه ئے استنباط کړے وؤ په دے طریقه باندے بعض مفسرینو رد کړے دے چه دا هم دَ نبی دَشان سره مناسب نه ده چه هغه دِ دَ دواړو بیان نه اوری او فیصله دِ کوی لیکن جواب داد ے چه هرکله دَ علاماتو نه هغه استنباط اوکړو نو دَ بل طرف بیان اوریدلو ته ئے ضرورت محسوس نکړو او یله دا چه دَ طرفینو نه بیان اوریدل دَپاره دَ فیصلے کولو زمونږ په ملت کښ ضروری دی کیدے شی چه دَ هغه په ملت کښ ضروری نه وو او دا توجیه هم دَ قرآن دَ ظاهر سره مناسب ده هیڅ تاویل ته ضرورت نه لری۔ او بیا په دے درے طریقو باندے نعجے نه مراد ظاهری معنی ده او خصمان نه مراد هم انسانان دی چه دَ هغوی جګړه هم په حقیقت کښ وه تمثیل او تشبیه نه وه ۔

لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ بِمَا نَسُوا يَوْمَ
دوی لره عذاب سخت دے په دے وجه چه دوی هیره کړے ده ورځ

الْحِسَابِ ﴿۲۶﴾ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ
د حساب . او نه دی پیدا کړی مونږ اسمان او زمکه

۲۶: ربط د دے ایت تقاضا کوی چه ماقبل واقعه د فیصلے کولو سره تعلق لری لکه چه روستو دوه طریقے بیان شویدی او د واقعے د اوریا سره هیڅ تعلق نه لری او په دے ایت کښ تثبیت دے داؤد علیه السلام ته اوادب او طریقه خودل دی د شرعی فیصلو کولو او تنبیه ده نورو خلقو ته د اتباع د خواهش په باره کښ او هرچه داؤد علیه السلام دے نو هغه خو معصوم دے د هغه نه دا خطره نیشته چه تابعداری د خواهش به یے کړے وی یا به ایښنده د پاره اوکړی داسے مفسر الوسی په تفسیر روح المعانی کښ لیکلی دی نو کومو مفسرینو چه ویلی دی چه دا تنبیه داؤد علیه السلام ته ورکوی ځکه چه هغه د اوریا د ښځے په حصول کښ اتباع د هوی نه دخل ورکړے وو نو دغه مفسرینو د انصاف نه پهر خیره کړے ده او دایے د انبیاؤ په شان کښ گستاخی کړیده.
خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ خطیب شربینی لیکلی دی چه د خلیفه دوه معانی دی اوله معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ ته د تیر شوے انبیاؤ علیهم السلام نه نائب کرځولے یے په دعوة الی الله تعالیٰ او په سیاست د خلقو کښ اودویمه معنیٰ دا چه تاله طاقت درکړے دے چه احکام د الله تعالیٰ په زمکه کښ نافذ کړے نو په دے معنیٰ باندے خلیفة الله ویل جائز دی نو خلافت په معنیٰ حقیقی چه اوله معنیٰ ده په حق د الله تعالیٰ کښ ممتنع دے نو داسے نشی ویلے کیدے چه فلان نائب د الله تعالیٰ دے.
فائده: په خلیفة الله لفظ استعمالولو کښ درے قولونه دی اول قول د جواز مطلقاً په دلیل د قول د علی رضی الله عنه سره دے او لیک خلفاء الله فی ارضه او په قول د راعی سره چه خطاب یے ابوبکر رضی الله عنه ته کړے وو خلیفة الرحمٰن انا معشر حنفاء نسجد بکرة واصیلا.
دوم قول د منع دے مطلقاً په دلیل د قول د ابوبکر رضی الله عنه لست بخلیفة الله و لکن خلیفة رسول الله صلی الله علیه وسلم او په دلیل

وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا ۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ الَّذِينَ

او هغه چه د دے په مینځ کښ دی بے فائدے دا گمان د دے د

كَفَرُوا ۚ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا

کافرانو لره کافرانو ده تباهي نو

مِنَ النَّارِ ﴿٢٧﴾ أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا

د اُور نه ۔ آیا گرځوو موږ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ

او عملونه ئے کړی دی موافق د سنت سره پشان د هغه کسانو چه فساد کوی په ملک کښ

د دے چه معنیٰ حقیقی د خلافت د الله تعالیٰ په باره کښ ممتنع او محال ده او دریم قول که مراد د اضافة (خلیفة الله) نه نائب وی د الله تعالیٰ نه نو منع دے او که اضافت نه مراد داوی چه الله تعالیٰ دے خلیفه جوړ کړے دے دلیل چا نه نو دا جائز دے ۔ لیکن هر کله چه دا لفظ موهم دے او دلیل شرعی صحیح د دے د جواز د پاره نیشته نو د دے وجے نه صحیح دا ده چه دا لفظ استعمالول شرعاً منع دی او د دے مسئلے تفصیل ابن قیم رحمة الله په مفتاح دار السعادة ص۱۶۵ او زاد المعاد ص۳ کښ کړے دے۔

ف۲۷ :۔ ربط د دے آیت مخکښ سره دا دے چه مخکښ تخویف وو په نسیان د یوم الحساب نو په دے آیتونو کښ رد په منکرینو د یوم الحساب او اثبات د قیامت دے ۔ بَاطِلًا مراد د دے نه عبث او لوبے دی چه د هغے هیڅ فائده نه وی بلکه فائده ضرور شته او کامله فائده به په دوم ژوند کښ ښکاره کیږی چه بعث بعد الموت دے ځکه چه د دنیا منافع خو کالعدم دی ۔ نو معلومه شوه چه پیدا ایښ د دے مخلوق دلیل دے په دوباره ژوند باندے ۔ او دا آیت دلیل دے چه څوک دا مخلوق عبث او لوبے گڼړی نو هغه کافر دی او دا گمان ئے سبب د جهنم دے۔

أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ ﴿۲۸﴾ كِتَٰبٌ

ایا گرځوو موږ متقیانو لره پشان د نافرمانو ۔ دا کتاب دے

أَنزَلْنَٰهُ إِلَيْكَ مُبَٰرَكٌ لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ

نازل کړے دے موږ تا ته برکتونو والا دے د دپاره چه دوی سوچ اوکړی په ایاتونو د دهٔ کښ

وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿۲۹﴾ وَوَهَبْنَا لِدَاوُۥدَ

او د دپاره د دے چه نصیحت واخلی خالص عقل والا ۔ او اوبخو موږ داؤد علیه السلام ته

ف۲۸ :۔ او دا دویم رد دے په منکرینو دَ قیامت یا ندے یعنی جزا او سزا چه حق نوی نو بیا خو مؤمن او غیر مؤمن یو شان به وی او دا بے انصافی او ظلم دے ۔ په دے ایت کښ افساد په معنیٰ دَ کفر او شرک او دَ خلاف سنت دے ۔ او تکرار دَ عدم مساوات ئے ذکر کړو په جدا جدا صفتونو سره اشاره ده چه هر یو دَ صفاتو دَ ایمان او دَ افساد، او دَ تقویٰ او دَ جرم بنکاره علت دے دَ پاره دَ عدم مساوات۔

ف۲۹ :۔ ترغیب دے قرآن کریم ته دَ پاره دَ اثبات دَ توحید او دَ پاره دَ تاکید دَ قیامت او دَ پاره دَ اثبات دَ فرق په مینځ دَ دواړو فریقو کښ چه مخکښ ایت کښ ذکر وو۔

مُّبَٰرَكٌ تفسیر نیشا پوری کښ په تفسیر دَ سورة انعام کښ ویلی دی چه خیر دَ قرآن ډیر دے نفع همیشه ده باعث دے په سلهٔ کارونو او منع کوونکے دے دَ بد کارونو نه ۔ او دَ الله تعالیٰ سنت جاری دے چه څوک شغل دَ قرآن سره لری او تمسك کوی په دهٔ باندے نو هغه به عزت والا وی په دنیا او اخرت کښ او دا په تجربے سره ثابته ده۔

لِّيَدَّبَّرُوٓا۟ ءَايَٰتِهِۦ مقصد دَ قرآن کریم صرف تلاوت نه دے بلکه په هغے باندے کان پوهه ول دی او سوچ کول دی او قرطبی لیکلی دی چه په دے کښ دلیل دے چه معانی دَ قرآن ایزده کول واجب دی او دا رنګ ترتیل (په ارام ارام سره لوستل) افضل دی دَ تیز لوستلو نه

وَلِيَتَذَكَّرَ أُو۟لُوا۟ ٱلْأَلْبَٰبِ روستو دَ تدبر او فکر کولو نه بعض خلق نصیحت قبول کړی او بعض نه قبلوی چا چه قبول کړو نو هغه ته ئے خالص عقل والا اویل ۔ اشاره ده چه دَ علم دَ قرآن نه مقصد عمل کول دی۔

سُلَيْمٰنَ ؕ نِعْمَ الْعَبْدُ ؕ اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ ﴿۳۰﴾ اِذْ عُرِضَ عَلَيْهِ

سلیمان علیه السّلام ښهٔ بنده وؤ یقینًا دے الله تعالیٰ ته ډیر رجوع کوونکے وؤ. کله چه پیش کړے شو په مقابل کے

بِالْعَشِيِّ الصّٰفِنٰتُ الْجِيَادُ ﴿۳۱﴾ فَقَالَ اِنِّىْۤ اَحْبَبْتُ

په ماښکر کښ په درے خپو باندے ولاړ اسونه ګړندۍ . نو اُوئیل هغه یقینًا زهٔ محبت کوم

حُبَّ الْخَيْرِ عَنْ ذِكْرِ رَبِّىْ ۚ حَتّٰى تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ ﴿۳۲﴾ وقفة

محبت دَ مال (اسونو) سره دَ وجه دَ یاد لو دَ رب زمانه ربه دے سبب سره) تر دے پورے چه پټ شو په پرده کښ.

۳۰:. دا دویمه قصّه ده په دے کښ ذکر کوی خائسته صفات دَ سلیمان علیه السّلام او وړمبے ذکر کوی ابتلاء دَ هغه دَ پاره دَ رد په مشرکینو چه ابتلاء په چا باندے راځی نو هغه شفیع قهری نشی کیدے اګرچه ډیر لوئے بزرګ وی. وَوَهَبْنَا دا بخشش دا سے دے لکه چه موسیٰ علیه السّلام ته دَ هغه رور هارون علیه السّلام یئ بخشش ورکړے وؤ نو مراد دا دے چه هغه یئ نبی اوګرځوؤ دَ پاره دَ دے چه په کار دَ نبوت کښ دَ داؤد علیه السّلام سره مدد اوکړی او روستو دَ وفات دَ هغه نه سلیمان علیه السّلام نبی هم وؤ او بادشاه هم شو. نِعْمَ الْعَبْدُ دا یئ اول صفت دے چه ډیر طاعت او عبدیت کوونکے وؤ. اِنَّهٗۤ اَوَّابٌ دا یئ دویم صفت دے دَ دے تفسیر مخکښ تیر شویدے.

۳۱:. په دے کښ دریم صفت دَ هغه ذکر کوی یعنی دَ جهاد فی سبیل الله او دَ رباط فی سبیل الله سره محبت کول یعنی اسونه دَ جهاد دَ پاره ساتل او دَ هغے خدمت کول سبب دَ لوئے اجر دے وَمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ سورة الانفال او رابطوا په سورة العمران کښ تیر شویدے. اَلْعَشِيِّ روستو دَ زوال نه تر غروب پورے وخت ته عشی ویلے شی او عشاء روستو دَ غروب دَ نمر او غروب دَ شفق ته ویلے کیږی. اَلصّٰفِنٰتُ هغه اسونه دی چه ولاړ وی نو دریواړه خپے یئ مضبوطے او دَ څلورمے خپے سوه یئ سسته لګولے وی او دَ کرهٔ او تیز رفتار اَس علامت دے. اَلْجِيَادُ کرهٔ تیز رفتار یا اوګلاسپ والا ته ویلے کیږی.

۳۲:. په دے کښ جواب دَ وهم کوی که څوک اعتراض اوکړی چه دَ دنیا دَ څیزونو سره مینه محبت کول ګناه ده او دا دَ پیغمبر دَ شان سره مناسب نه دے نو په دے ایت کښ دَ هغے جواب دے حاصل جواب دا دے چه دا محبت دَ وجه دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه دے. عَنْ ذِكْرِ په معنیٰ دَ مِن اجلیه سره دے. اَلْخَيْرِ مال حلال ته ویلے کیږی او دلته مراد اسونه دَ جهاد دی او ذِكْرِ نه جهاد فی سبیل الله دے حَتّٰى تَوَارَتْ دا متعلق دے دَ عُرِضَ سره یعنی اسونه په صفونو سره هغه ته پیش شول او معلومات یئ کول چه دا دَ جهاد کولو دَ پاره لائق دی او که نه تر دے پورے چه لرے لاړل دَ هغه دَ نظر نه پټ شول.

رُدُّوْهَا عَلَيَّ ۭ فَطَفِقَ مَسْحًۢا بِالسُّوْقِ وَالْاَعْنَاقِ ﴿۳۳﴾

[واپس یې کړئ په ما باندې نو شروع شو چه لاس یې وهلو په پنډو او په سټونو (د اسونو) باندې.]

وَلَقَدْ فَتَنَّا سُلَيْمٰنَ وَاَلْقَيْنَا عَلٰى كُرْسِيِّهٖ جَسَدًا

[او یقینا امتحان کړے دے مونږ په سلیمان علیه السلام باندے او واچولے دے مونږ په کرسئ د هغه باندے یو جسد]

۳۳:۔ روستو د مسابقې نه اسونه یې دوباره طلب کړه لکه چه دا عادت دے د اسونو د تربیت کوونکو نو د هغې پنډے او سټونه یې په خپله صاف کړل د دوړو نه او وې تپه ول لکه چه دا عادت عامه دے او دا دلیل د نهایت محبت د جهاد دے چه د هغې د اسبابو خدمت سلیمان علیه السلام په خپله لاسونو باندے کوی او دا سے حدیث کښ وارد دی چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم به خپل آس په خپل څادر سره صفا کوؤ او بل حدیث کښ امر راغلے دے چه د دے اسونو تندی او روستو حصه د بدن پاکوئ نو سلیمان علیه السلام هم دغسے کړیدی او دا روایت د علی بن طلحه دے د ابن عباس رضی الله عنهما نه او حدیث د عائشه رضی الله عنها کښ وارد دی چه د دے اسونو وزرے هم وے او دا حدیث صحیح دے۔

فائده علا:۔ د دے ایت په تفسیر کښ نور اقوال د مفسرینو هم شته اول دا چه عن په خپله معنیٰ دے او د هغه نه مخکښ شغلی پټ دے. او تَوَارَتْ ضمیر نمر ته راجع دے چه لفظ د عشی په هغې باندے دلیل دے. او رُدُّوْهَا ضمیر هم نمر ته راجع دے او دا خطاب الله تعالیٰ ته دے یعنی د اسونو په تماشا کولو سره نمر غائب شو او مونځ د ماز یګر تر ینه قضا شو نو په دے باندے خفه شو نو اُوئیل یې چه ما د اسونو سره محبت کوؤ نو غافل یې کړم د ذکر د رب نه تر دے پورے چه نمر پټ شو۔ اے الله دا نمر ما ته واپس را اوګرځوه نو نمر ورته واپس کړے شو او مونځ د ماز یګر یې ادا کړو۔ لیکن دا تفسیر ضعیف دے په یو څو وجوهو سره، اوله وجه دا ده په دے کښ نسبت د محبت د دنیا دے چه سبب د غفلت او شو د مونځ کولو نه سلیمان ته او دا د نبی د شان سره نه ځائیږی دویمه وجه دا ده د توارت (چه ضمیر یې ظاهرًا راجع دے صافنات ته) دغه ضمیر نمر ته راجع کول اګرچه لفظ د عشی په هغې دلیل دے ضعیف دے ظاهر نه عدول بلا ضرورت مناسب نه دی۔ دریمه وجه د ا نباء دے په وقوف د شمس باندے سلیمان علیه السلام ته او په دے باندے حدیث مرفوع صحیح دلیل نیشته۔ دویم تفسیر دا دے چه ضمیر د توارت نمر ته راجع دے او په مخ کښ تقدیر د عبارت دے چه مونځ تر ینه قضا شو نو بیا ورته نمر واپس کړے شو او ضمیر د ردوها اسونو ته راجع دے په دے تفسیر کښ د بے ضرورته تقدیر نه علاوه هغه ضعف هم دے کوم چه په اول تفسیر کښ ذکر شو۔ دریم تفسیر دا دے چه دا ضمیر برعکس کړے شی یعنی ضمیر د توارت اسونو ته راجع دے او ضمیر د ردوها نمر ته راجع دے (پاتے په بل مخ)

ثُمَّ اَنَابَ ﴿۳۴﴾ قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَهَبْ لِیْ مُلْكًا

بیا اوګرځید و الله تعالیٰ ته -- او ویل هغه اے ربه زما - بخنه اوکړه ماته او را اوبخه ماته بادشاهی

په دے قول کښ هم هغه ضعف دے چه په اول کښ ذکر کړے شو، او په دے درے وارو تفسیرونو کښ ډیر ضعف دا دے چه ورپسے دَ مسحًا بالسوق والاعناق نه مراد اخلی چه په توره باندے پریکړے پنډے او سټونه دَ آسونو، نو دا په ډیرو وجوهو سره باطل قول دے اول خو هلاکول دَ مالونو دَ جهاد دی دویم دا چه ظاهر دادہ چه دا مال دَ بیت المال وؤ دَ دے اتلاف ناجائز دے دریم دادہ چه مسح په عرف دَ عرب کښ په معنیٰ دَ پریکولو نه ده راغلے او بعض اشعار په دے کښ شاذ راغلی دی، څلورمه وجه دادہ چه دَ حیوان ذبح کول صرف په مرئے حلقوم کښ دی ستے پریکول او پنډے پریکول خو ظلم دے. پنځمه وجه دادہ چه دا دَ سدی او کلبی قول دے او هغوی په تفسیر کښ واهیان دی. شپږم په دے باندے ابن جریر او امام رازی او شربینی وغیره رد کړے دے. اووم دَ دے قول نه بعض متصوفو استدلال کړے دے چه په حالت دَ جذبه کښ دَ ځان نه جامے شلول جائز دی ځکه چه سلیمان علیه السّلام په جذبه کښ آسونه هلاک کړل او دا استدلال شبلی ذکر کړے دے او قرطبی په هغے باندے رد کړے دے او دا سے تلبیس ابلیس کښ ابن جوزی په دے باندے رد کړے دے.

۳۴: - روستو دَ ذکر دَ صفاتو دَ سلیمان علیه السّلام نه ابتلاء ذکر کوی په هغه دَ پاره دَ نفی دَ الوهیت دَ هغه نه. فَتَنَّا فتنه دَ هر چا دَ هغهٔ دَ شان مناسب وی دَ انبیاؤ فتنه په حکم کښ خطاء اجتهادی یا سهو او نسیان رانلل دی او داګناه نه دے لیکن دَ حسنات الابرار سیئات المقربین په قانون سره سبب دَ خفګان دَ انبیاؤ دَ پاره او ګرځی هسے نه چه الله تعالیٰ به زمونږ نه خفه شوے دے وجے نه دیته فتنه وائی او په باره دَ فتنے دَ سلیمان علیه السّلام کښ صحیح قول دا دے کوم چه په حدیث صحیح کښ ذکر دے دَ هغے حاصل دا دے چه سلیمان علیه السّلام دَ جهاد دَ محبت دَ وجے نه او غوختله چه خپل اولاد ئے پیدا شی او هغه به مجاهدین فی سبیل الله وی نو اوویل ئے چه زه به نن شپه په تولو بیبیانو خپلو باندے ګرځم او دَ هغوی نه چه اولاد پیدا شی هغوی به مجاهدین وی او انشاء الله تعالیٰ ویل نه ئے شول نو څه موده روستو دَ ولدیو ټکړه (یعنی ولدا تاما) دَ هغه او رے شو او په کرسی دَ دهٔ باندے واچولے شو چه صرف دا ولد ستا دَ یوې بی بی نه پیدا شو او دَ نورو بیبیانو هیڅ پیدا نشول نو دهٔ ته رایاد شول چه زما نه انشاء الله تعالیٰ ویل هیر شوے وو دا دَ هغے نتیجه ده نو دَ الله تعالیٰ نه ئے بخنه او غوختله او الله تعالیٰ ته ئے رجوع اوکړه.

لَا يَنۢبَغِىْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِىْ ۚ اِنَّكَ اَنْتَ

چه نه خائیگی هیڅ لره روستو زما نه یقینًا ته

الْوَهَّابُ ﴿۳۵﴾ فَسَخَّرْنَا لَهُ الرِّيْحَ تَجْرِىْ

بخشش ورکوونکے یې. نو په خدمت ذ هغه کښې هم اونګوله هوا روانه په وه

بنا په دے ذجسد نه مرادو لیا نا تمام دے. دا صحیح حدیث دے او ذ انبیاؤ علیهم السلام ذ قوت نه دا بعیده نه ده چه شلو بیبیانو ته یو شپه کښې نزدیکت اوکړی او بله ضروری خبره دا ده چه په احادیث ذ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې په خپل عقل سره تلل جائز نه دی نو صرف په عقل سره ذ دے حدیث یا ذ نورو احادیثو صحیحو رد کول ظلم دے. ذ دے نه علاوه کوم اقوال چه مفسرینو ذکر کړے دی او په هغې کښې بنیاد ذ بادشاهۍ ذ سلیمان علیه السّلام په ګوتے ذ هغه باندے ایښودلے شویدے او ذ شیطان په شکل ذ سلیمان علیه السّلام جوړیدل او په مسلمانانو باندے بادشاهي کول او شیطان په کور ذ سلیمان علیه السّلام باندے مسلّط کیدل وغیره هفوات دی ذ دے په باره کښې ابن کثیر او قرطبي او رازي او شربیني وغیره فیصله کړے ده چه دا ذ یهودیانو نه راغستلے شوے روایت دی هغوی په سلیمان علیه السلام باندے ډیر دروغ جوړ کړیدی. دا ذ دغه دروغو یوه کړے ده او ابن حیان البحر المحیط کښې ویلے دی چه نقل کړیدی مفسرینو په باره ذ فتنه او جسد کښې دا سے اقوال چه واجب دے براءة ذ انبیاء علیهم السّلام ذ هغې نه هغه ددے مفسرینو په کتابونو کښې دی ذ هغې نقل کول مونږ له روا نه دی او یا ذ یهودیانو او زندیقیانو وضع کړے شوے خبرے دی او الله تعالی مونږ ته ذ فتنې او جسد بیان نه دے کړے لیکن ظاهر په دیکښې هغه دے چه حدیث ذ لاطوفن اللیلة کښې راغلی دے رمخکښې مونږ ذکر کړو).

۳۵:. دا ادب دے ذ انبیاء علیهم السّلام چه ذ تواضع او خشوع ذ اظهار ذ پاره او ذ حصول ذ ترقۍ ذ درجاتو ذ پاره استغفار غواړی دا دلیل په دے باندے نه دے چه سلیمان علیه السّلام څه ګناه کړے وه.
او استغفار سبب ذ ترقۍ ذ دنیا هم دے ذ دے وجې نه ذ دُعا ذ بادشاهۍ نه ئې استغفار مخکښې ذکر کړو. وَهَبْ لِىْ مُلْكًا لَّا يَنۢبَغِىْ لِاَحَدٍ مِّنْۢ بَعْدِىْ (سوال) ذ انبیاؤ علیهم السّلام ذ شان نه بعیده ده چه ذ دُنیا بادشاهي دې غواړی؟ (جواب) ذ دنیا بادشاهي او مال ته چه ز پاتے په بله مخ)

يَأمُرِهِ رُخَآءً حَيْثُ اَصَابَ ﴿۳۶﴾ وَالشَّيٰطِيْنَ

په حکم دَهغه سره نرمه کوم خوا چه به دے تللو او شیطانان

دَدين دَحفاظت دَپاره استعماليږي دَ هغ طلب کول جائز دی بلکه عبادت دے نو سليمان عليه السّلام دَدين دَحفاظت دَپاره دا سوال کوی او وجه داده چه ثمنا دَدهٔ حاصله نه شوه چه ځامن اولاد يې طلب کول دَ حفاظت دَدين دَپاره نو اوس بادشاهی طلب کوی دَحفاظت دَدين دَپاره۔ لَا يَنْبَغِيْ لِاَحَدٍ مِّنْ بَعْدِيْ مراد دَدے داسے بادشاهی ده چه په سليمان عليه السّلام پورے خاص وی او دليل په دے باندے حديث صحيح دَ بخاری دے مضمون يې دا دے چه نبی صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی چه بيګاه شپه يو سرکش پيرے په ماپسے دَما ځه په حالت کښې راغ موځ يې په ما باندے کړو کاؤ نو الله تعالیٰ ماله په هغه باندے قدرت راکړو بيا م اراده اوکړه چه دَمسجد په يو ستن پورے او ترم چه صبا يې تاسو اوينی ليکن ماته دَ سليمان عليه السلام دا دُعا ياده شوه دَ دے وجے ما اونه تړلو۔ نو دا حديث صريح دے چه سليمان عليه السّلام خصوصيت دَځيل ځان دَپاره طلب کوؤ۔ او دَدے نه معلومه شوه چه جنات رانيول او تړل ممکن دی او په سحر منترو سره هم کيدے شی ليکن جائز نه دی۔

(سوال) دَدے دُعا خصوصيت دَځان دَپاره بخل دے دَ انبيا عليهم السّلام دَ شان سره نه ځائيږی؟

(جواب) زمخشری ذکر کړيدی چه مراد دَ دے خصوصيت نه معجزه ده او معجزه طلب کول دَپاره دَدے چه تصديق دَ توحيد او دَ نبوت حاصل شی دا دَ انبياء عليهم السّلام کار دے۔ او په تفسير دَ لا ينبغي اه کښې نور اقوال هم شته ليکن هغه ضعيف دی او هرکله چه دَ داسے بادشاهۍ دَحصول دَپاره اسباب دَ سليمان عليه السّلام سره نيشته نو دَدے وجے نه توسل په دے نوم دَ الله تعالیٰ سره کوی چه اِنَّكَ اَنْتَ الْوَهَّابُ۔ بخښه کوؤنکے يې بغير دَ عوض او بے اسبابو۔

۳۶ ۳۷ ۳۸ :۔ په دے آياتونو کښې اشاره ده استجابت دَ دُعا دَ سليمان عليه السّلام ته او دَ معجزاته بادشاهۍ په طور سره اول هوا مسخر کړے شوه چه په هغ سره به دَدهٔ تحت دَدهٔ دَ مقتضیٰ موافق چليدلو۔

كُلَّ بَنَّآءٍ وَّ غَوَّاصٍ ﴿۳۷﴾ وَّ اٰخَرِيْنَ

هر آبادي كوونكي او غوپې وهونكي او نور چه بو ګاڼه به

مُقَرَّنِيْنَ فِى الْاَصْفَادِ ﴿۳۸﴾ هٰذَا عَطَآؤُنَا

تړلي شوي وو په زنځيرونو كښ - دا بخښش زموږ دے.

فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۳۹﴾

تو احسان كوه يا يئے راتينګ كړه بغير دَ حساب نه.

بِاَمْرِهٖ كښ اشاره ده مقتضى ته رُخَآءً تابعدارا و نرم ته وائي. تابع خوبه هروخت وه او كله به نرمه وه او كله به تيزه شوه دَ دے وجے نه سورة انبياء سلا كښ عاصفة ذكر دے -او يا دَ نرم نه مراد دا دے چه اګرچه تيزه وه ليكن رفتار دَ سليمان عليه السلام كښ به يئے پريشانى او كړي وه وا نه راوستلو. اَصَابَ په معنى دَ اراده او دَ قصد كولو دے رسيدل مراد نه دى.

او دويم سركش پيريان مسخر كړے شول چه هغه سخت كارونه يئے كول چه انسانانو يه كولے نشو. بَنَّآءٍ آبادے به يئے كولے لكه سورة سبا سلا كښ تير شويدى او غَوَّاصٍ درياب كښ به يئے غوپے وهلے دِ دے دَ پاره چه ملغلرے راوباسى. او چا به چه دَ تابعدارے نه اعراض كوؤ نو هغوى به يئے بندى كول او په زنځيرونو كښ ترل.

سلا. هٰذَا كښ اشاره ماقبل بادشاهۍ او تسخير دَ هوا او دَ شياطينو ته دَه عَطَآؤُنَا په دے سره وهم دفع كوى چه يهوديانو مشهور كړے وؤ چه سليمان عليه السّلام ساحر وؤ دا تسخير يئے پسبب دَ جادو سره كړے وؤ نو جواب اوشو چه دا بخښش دَ الله تعالى دَ طرف نه وؤ په جادو متتر سره نه وؤ. فَامْنُنْ اَوْ اَمْسِكْ يعنى په دے كښ سليمان عليه السّلام دَ دُنيا دَ يو قانون پابند نه وؤ كه يو قيدى يئے آزادؤ او كه نه آزادؤ او ګناه ورباندے هم نه وه.

وَاِنَّ لَهٗ عِنْدَنَا لَزُلْفٰى وَحُسْنَ مَاٰبٍ ﴿۴۰﴾

او یقیناً دهٔ لره زمونږ سره خامخا نزدیکت دے او ښائسته ځائے د ورتللو.

وَاذْكُرْ عَبْدَنَآ اَيُّوْبَ ۘ اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ

او یاد کړه بنده زمونږ ایوب علیه السّلام چه آوازئے ورکړو رب خپل ته

اَنِّىْ مَسَّنِىَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ ﴿۴۱﴾

بیشکه زهٔ چه یم رسولے دے ماته شیطان په مرض او تکلیف سره.

سٹک :. اشاره ده چه دغه دنیوی نعمتونه سبب د لرے والی دَ الله تعالیٰ نه او دَ جنت نه وو لکه چه دَ نورو سرمایه دارو مالداری منافی وی دَ آخرت سره

قائده :- په واقعه دَ داؤد علیه السّلام کښ دَ هغه سجده هم ذکر کړه دَ دے وجے نه هلته ئے تصریح کړے ده په غفرنا سره او دلته ذکر دَ سجدے نه وؤ دَ دے وجے نه مغفرت ئے صراحتًا نه دے ذکر کړے او دا رنګ په لفظ دَ استغفر کښ ډیره مبالغه او عاجزی وه په نسبت دَ رب اغفرلی نو معلومه شوه چه دَ داؤد علیه السّلام تضرع او عبدیت ډیر زیات وؤ (والله اعلم).

سٹک :. دا دریمه قصّه ده، دَ داؤد علیه السّلام ابتلاء په باره دَ شرعی فیصلو کښ ده او دَ سلیمان علیه السّلام ابتلاء په باره دَ محبت دَ جهاد کښ وه او دَ ایوب علیه السّلام ابتلاء په نفس دَ دهٔ کښ وه یعنی په بدن او په مال کښ. او اول دواړه بادشاهان او عابدان وو او ایوب علیه السّلام سرمایه دار او عابد وؤ. او هر کله چه مقصد په ابتلاء کښ اثبات دَ عبدیت دے دَ دے وجے نه دَ هغه صفت ئے ذکر کړو په عَبْدَنَآ سره او تفسیر دَ عبدیت ئے ذکر کړے په دے قول سره اِذْ نَادٰى رَبَّهٗٓ اَنِّىْ مَسَّنِىَ الشَّيْطٰنُ بِنُصْبٍ وَّعَذَابٍ. دَ قتاده قول دے چه شربینی نقل کړے دے چه نُصْبٍ مرضونه بدنی دی او عَذَابٍ مصیبتونه خارجی دَ هلاکت دَ اهل او دَ مال دی.

شیطان ته په نسبت کولو کښ مشهور قول دَ مفسرینو دا سے قصّے دی چه مناسب نه دی دَ شان دَ انبیاء علیهم السّلام سره او قرطبی وئیلی دی "چه قرآن او سنّت صحیحه کښ دَ دغه واقعاتو هیڅ ذکر نیشته

ارْكُضْ بِرِجْلِكَ هٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَّ
اُوهه زمکه په خپله خپه یاتدے دا ځائے دَ لامبلو دے یخ او

شَرَابٌ ﴿۴۲﴾ وَوَهَبْنَا لَهٗ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ
اوپه دَ څکلو دی۔ او اوبخلو مونږ ده ته یال بچ دَ ده او پشان دَ هغوی

او اسرائیلیات دَ علماؤ په نیز پریخودلے شوے دی نو دَ هغې نه ستر گے واړوه او غوږونه تړینه کاته کړه ځکه دا په ستا په فکر کښ خیالات زیاتوی او ستا په زړه کښ فساد پیدا کوی" (ترجمه تفسیر قرطبی) نو په دے نسبت کښ صحیح قول دا دے چه افعال ټول دَ خیر او شر دَ ایمان او کفر طاعت او معصیت ټول په خلق دَ الله تعالیٰ سره دی لیکن ادب دا دے چه دَ شر نسبت الله تعالیٰ ته دے یکار او شیطان ته دَ نسبت وجه داده چه په تکالیفو او مصیبتو دَ صالحینو سره شیطان خوشحالیږی او سبب او کرځی دَ هغه دَ وسوسو لکه چه دَ نسیان نسبت یوشع علیه السلام شیطان ته کړے دے وما انسانیه الشیطان ان اذکره سورة کهف۔

فائده: په قرآن کریم کښ دَ سورة الانبیاء او دَ دے سورت نه اجمالی طریقے سره معلومه ده چه دَ هغه په بدن کښ بیماری او تکلیف وؤ لیکن په هغے کښ داسے مبالغے کول چه دَ نبی په باره کښ عیب وی جائز نه دی مفسر الوسی په تفسیر روح المعانی کښ دَ دے آیت په ذیل کښ دَ اهل تحقیقو دا قول نقل کړے دے چه انبیاء علیهم السلام باندے عوارض بشریه راتلے شی بشرطیکه حرام مکروهه او مباح، عیب، جن او نفرت پیدا کوونکی نه وی نو شل کیدل برص جذام ړوندوالے لیونتوب وغیره ورباندے نشی راتلے۔

۴۲۔ دا استجابت دَ دُعا دَ هغه دے او طریقه دَ علاج ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ارْكُضْ بِرِجْلِكَ رکض په پونده او خپه باندے یوشے وهل دی او دلته قلنا مقدار دے۔ بیا په دے کښ دوه قولونه دی مشهور قول دا دے چه خپه وهل دَ دے دَ پاره چه چینه راپیدا شی دویم قول دا چه دَ دے دَ پاره چه مرضونه تړینه او دوریږی او هر یو معجزه ده۔ او تفسیر قرطبی کښ سخت رد ئے کړے دے په هغه متصوفه ګمراهانو چه دَ دے لفظ نه استدلال کوی (پاتے په بل مخ)

مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۴۳﴾

ورسره ذدیج ذ رحمت زمونږ نه او نصیحت خالص عقل والو لره -

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَاضْرِب بِّهِ وَلَا تَحْنَثْ ؕ

او راونیسه په لاس کښې جارو نو اُوهه په هغه زړې ښځې له) او قسم مه ماتوه ،

إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ الْعَبْدُ ۖ إِنَّهُ

یقینًا موندلے وو موږ دے صبرناک ښه بنده وو یقینًا دے

أَوَّابٌ ﴿۴۴﴾ وَاذْكُرْ عِبَادَنَا إِبْرَاهِيمَ وَإِسْحَاقَ

وژرجیدونکے وو الله تعالیٰ ته - او یاد کړه بندګان زمونږ ابراهیم او اسحاق

چه ګڼا کول جائز دی او دا عین تحریف معنوی دے او موږ په تفسیر
دَ لا تمش فی الارض مرحا کښې دَدے تردید ذکر کړے دے.
هٰذَا مُغْتَسَلٌ بَارِدٌ وَّشَرَابٌ دا طریقه دَ علاج دَ بدن ده چه په غسل
سره به ظاهری مرضونه زائل شي او په څکلو سره به دَ باطن مرضونه
زائله شي. مغتسل او بوته وائي او ځائے دَ غسل ته هم ویلے کیږی -
سلا :- دا استجابة دَ دُعا په باره دَ اهل کښې دَ چه اهل دَ هغه ګڼا وړ شوے وُو یا
مړهٔ شوے وو الله تعالیٰ بیا راجمع یا ژوندی کړل دا هم معجزه وه -
رَحْمَةً مِّنَّا اشاره ده چه په الله تعالیٰ باندے څوک زور اور نه دی شفیع
قهری نیشته صرف دَ الله تعالیٰ رحمت دے. ذِكْرَىٰ لِأُولِي الْأَلْبَابِ
نصیحت دا دے چه په صبر کښې کامیابی ده او رحمت دَ الله تعالیٰ واسع دے دَ
هغے نه نا اُمیدی جائز نه ده او تضرع او عاجزی الله تعالیٰ قبلوی -
سلا: دا عطف دے په ارکض باندے یا په وهبنا باندے په تقدیر دَ قلنا سره.
او دا تدبیر دے دَ باره دَ بچ کیدلو ایوب علیه السّلام لره دَ قسم دَ ماتولو نه
چه هغه قسم کړے وو چه زه دا ښځه سل دُرّے وهم او دَ ښځے دَ وهلو سبب کښې
ډیر اقوال دی اصح په کښې دا دے چه ابلیس دے ته متمثل شو په شکل دَ یو
طبیب ښځے ته اوویل چه زه به ستا دَ مرض علاج او کړم او هیڅ اجرت نه
غوارم سوا دَ دے نه چه هغه به یو پسکورے زما په تقریب سره ذبح کړی
یا ته به اوائے چه دا شفا ورله تا ورکړیده دهغے بی بی په دے باندے
فکر راغے چه دا څوک دے او ځان ته یے اوویل خو هغه خبره یے ایوب علیه السّلام

ته اورسوله هغه ډیر غصّه شو روجه دَ غصّے دادہ چه تا دومره زمانه په توحید کښ تیره کړه نو ولے پوهه نه شوے چه دا یومشرک وځاو تاته ئے دَ شرک کلمات اوخودل) نو زه په تا سل ګزرے اوهم۔ لیکن هر کله چه هغه ښځے په دے خبره باندے عقیده او عمل نه وو کړے صرف ایوب علیه السّلام ته ئے را اورسوله نو هغه مجرمه نه وه نو دَ هغې وهل په سل ګزرو سره ظلم جوړیدو او که بالکل ئې وهل دَ هغې منع کړے وے نو ایوب علیه السلام په قسم کښ حانث کیدلو نو الله تعالیٰ داسے تدابیر او مخرج هغه ته اوخایو چه په هغې سره ښځه دَ ظلم نه بچ شی او ایوب علیه السلام به دَ قسم ماتو لو نه بچ شی ۔ او دَ دے نه معلومه شوه چه خاوند لره وهل دَ ښځے تادیبًا جائز دی لیکن دَحد نه زیاتے نه کوی۔

ضِغْثًا هغه جارو ته ویلے کیږی چه په هغې کښ سل کترکی وی یا هغه څانګه ته ویلے کیږی چه مشتمله وی په سلو وړو وړو څانګو باندے۔

فائده ۱:- ایوب علیه السلام ته چه کومه طریقه اوخودلے شوه دے ته په شرع کښ مخرج ویلے کیږی حیله ویل ورته مناسب نه دی ځکه حیله اګرچه په لغت کښ مطلق تدابیر خفی ته ویلے کیږی لیکن اکثر استعمال دَدے په هغه طریقه سره دے چه په هغې کښ خباثت وی او دا ذکر کړے دے راغب په مفردات القرآن کښ۔ بیا په دے طریقه کښ دَ علماؤ اختلاف دے دَ مجاهد اودَ عطاء نه نقل دی چه دا په ایوب علیه السلام پورے خاص ده او بعضو ویلے دی چه دا رخصت باقی دے په حدود او ایمان (قسم) کښ زمونږ په شریعت کښ ځکه چه حدیث دَ مخدج (ناقص الخلقة) چه زنا ئے کړے وه او غیر محصن وو نو نبی صلی الله علیه وسلم دَ هغه دَوهلو دَپاره داسے طریقه خودلے وه او ایمان ئے په دے باندے قیاس کړے دے او اصح داده چه په حدود کښ په وخت دَ ضرورت کښ جائز ده دَ وجے دَحدیث نه او په ایمان کښ دا طریقه جائز نه ده ځکه چه دلیل شرعی نیشته او بل دا چه کفاره زمونږ په شریعت کښ شته دَ۔

فائده ۲:- مبسوط او عالمګیری وغیره فقهاؤ احناف حیله کښ اقسام ذکر کړے دی بعض جائز دی او بعض ناجائز دی اول قسم حیله کول دَپاره دَ دفع کولو دَ ظلم دَ مظلوم نه لکه دا طریقه دَ ایوب علیه السّلام نو دا جائز ده دویم دَیو مباح خیز دَحصول دَپاره جائز طریقه (باقی په بل مخ)

وَيَعْقُوبَ أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ ﴿٤٥﴾

او یعقوب علیهم السلام خاوندان دَ (لاسونو وو زغلونه) او دَ سترګو وو (علم) .

اوکړی لکه واقعه دَ یوسف علیه السّلام کښې دا هم جائز ده (لیکن صحیح دا ده چه هغه خاص وه په یوسف علیه السّلام پورې لکه چه دَ هغې تحقیق تیر شوی دی) دریم قسم حیله کول دَ پاره دَ رسیدلو حرامو ته لکه حیله دَ اصحاب سبت او داسې حیله دَ اسقاط مروجه په دې ملک کښې چه قدیه اغستل مالدار دَ پاره حرام وی او دا رنګ فدیه کمول دَ مقدار شرعی نه منع دی لیکن په حیله مروجه سره هغه دواړه کارونه جائز اوګرځوی او نور ډیر مفاسد په دیکښې شته دې نو دا ناروا ده . څلورم قسم حیله دَ یو حق شرعی دَ ساقط کولو دَ پاره دَ دې چه زکوٰة او شفع وریا نه دې واجب نشی دَ دې دَ جواز نسبت امام یوسف ته کړې شوې دې او دَ امام محمد په نیز ناجائز ده او فتاوی عالمګیریه کښې لیکلی دی چه فتوی په قول دَ امام محمد باندې ده او صاحب دَ روح المعانی لیکلی دی کل حیلة اوجبت ابطال حکمة شرعیة لا تقبل (په هره حیله سره چه لازمیږی دَ حکمت شرعیه ساقطیدل نو هغه نه قبلیږی) دا غوره قاعده ده .
إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا دا دلالت کوی دَ ایوب علیه السلام په ډیرو مصیبتونو او په هر مصیبت باندې صبر کول ځکه چه داسې عبارت استعمالیږی په مقام دَ تجربه کولو کښې په یو شخص باندې یا په یو کار باندې.
نِعْمَ الْعَبْدُ دلته کښې هم دَ دهٔ عبدیت ذکر کړې شوې وؤ دَ وجې دَ تضرع الی الله نه دو یاره یې ذکر کوی په نِعْمَ سره دَ وجې دَ غیرت کولو په توحید باندې چه دَ هغې دَ وجې نه یې دَ ښځې دَ وهلو عزم کړې وؤ.
۴۵ سلا سلا .. دا ذکر دَ ابتلاء اتو دې اجمالاً په دغه درې انبیاء علیهم السّلام باندې چه دَ هغوی دَ ابتلاء اتو بیان په نورو سورتونو کښې راغلی دې او مقصد په دې کښې اثبات دَ عبدیت دَ دوی دې دَ دې وجې نه لفظ عِبَادَنَا یې ذکر کړې دې . بیا یې دَ دوی پنځه اوصاف دَ کمال ذکر کړې دی اول او دویم أُولِي الْأَيْدِي وَالْأَبْصَارِ په اول کښې مراد دې قوت او کثرت دَ اعمالو دَ خیر.
الْأَيْدِي جمع دَ یَد ده په معنیٰ دَ لاسونو لیکن اکثر عملونه په لاسونو

اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى الدَّارِ ﴿۴۶﴾

یقینًا غوره کړي وو موږ دوی په غوره والی سره چه یادول دَ کور روستني دی۔

وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيَارِ ﴿۴۷﴾

او یقینًا دوی په نیز زمونږ خامخا دَ هغو کړے شوی غوره خلقو نه وو۔

وَاذْكُرْ اِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَذَا الْكِفْلِ

او یاد کړه اسماعیل او الیسع او ذوالکفل علیهم السلام۔

بانڈے کیږی دَ دے وجے نه مراد دَ ایدی نه عملونه دی یا یَدَا په معنیٰ
دَ نعمت دے یعنی په دوی باندے نعمتونه دَ الله تعالیٰ ډیر دی یا دَ دوی
احسانونه دَ خلقو سره ډیر وو په سبب دَ دعوة الی الخیر۔
وَالْاَبْصَارِ مراد ترینه بصیرت قلبیه دے یعنی خاوندان دَ علم او دَ معرفتِ
الٰهیه وو او په دے صفتونو ذکر کولو کښې لطیفه اشاره ده چه
کوم خلق دَ دوی مخالفت کوی نو دَ هغوی مثال داسے دے چه
لاسونه او سترگے نه وی۔ اِنَّآ اَخْلَصْنٰهُمْ دا دریم صفت دے بِخَالِصَةٍ
یعنی خصلتِ خالصه یعنی حالت او صفت پاک۔ ذِكْرَى الدَّارِ دلته
هم پټ مراد دے یعنی هغه صفتِ خالصه دا دے چه دوی هر وخت
آخرت یاد وی دَ هغے دَ پاره تیاری کوی او نورو خلقو ته دَ هغے
تذکیر ورکوی۔ وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيَارِ دا څلورم
او پنځم صفت دے الْمُصْطَفَيْنَ کښې صفت لازمی سلبی ته اشاره ده چه دَ
دوی ذاتونه دَ خیرو (گناهونو) نه پاک دی الْاَخْيَارِ کښې صفتِ متعدی
ایجابی ته اشاره ده یعنی په نسبت دَ نور مخلوق سره دوی غوره دی او
خاوندان دَ نیکو کارونو دی دَ ځان سره او دَ نورو خلقو سره خطیب شربینی
وئیلی دی دا دلیل دے چه انبیاء علیهم السّلام دَ گناهونو نه پاک دی
ځکه چه په مطلق اصطفاء سره دَ مطلق خیریت ته دلالت کوی په
عصمت باندے۔

وَكُلٌّ مِّنَ الْأَخْيَارِ ﴿۴۸﴾ هَٰذَا ذِكْرٌ ۚ

او دا ټول دو ډ غوره خلقو نه . دا (یو قسم) ذکر دے

وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَآبٍ ﴿۴۹﴾ جَنَّاتِ

او یقینًا چه متقیانو دپاره ښائسته ځائے د ورتللو دے جنتونه

عَدْنٍ مُّفَتَّحَةً لَّهُمُ الْأَبْوَابُ ﴿۵۰﴾ مُتَّكِئِينَ

د ډیره کیدلو پرانستے شوے به وی دوی ته دروازے . تکیه به وهلے وی دوی

فِيهَا يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ

په هغے کښ غواړی به دوی په هغے کښ میوے ډیرے

وَشَرَابٍ ﴿۵۱﴾ وَعِندَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ

او څښکل . او د دوی سره به وی بندوُنکی د سترګو خپلو په خاوندانو باندے

سـ۴۸ :. دا درے انبیاء علیهم السّلام ذکر کوی اشاره ده د دوی ابتلاءاتو او په هغے باندے صبر کولو ته د اسماعیل علیه السّلام د وړوکوالی ابتلاء او صبر سورة صافات کښ ذکر شوے دے او د الیسع بن اخطوب او ذوالکفل (بشر بن ایوب) علیهم السّلام تفصیلی حالات الله تعالیٰ ته معلوم دی. مِنَ الْأَخْيَارِ کښ اشاره ده د دوی مصیبتونو ته په دعوت الی الله کښ او په هغے باندے صبر کول او نور اعمالو صالحو ته . د هکتو درے او د دے درے انبیاء علیهم السّلام په احوالو کښ ئے تفاضل او فرق ته اشاره او کړه په تفاوت د تعبیر سره او الله تعالیٰ خه عالم دے په فرق د درجاتو د دوی لیکن زمونږ اجمالی عقیده ده تلك الرسل فضلنا بعضهم علی بعض باندے .

د سـ۴۹ نه تر سـ۵۴ پورے . روستو د بیان د ابتلاءاتو د انبیاء علیهم السّلام ته بشارتِ اخرویه ذکر کوی دے انبیاؤ او د دوی تابعدارانو لره او لفظ د متقین کښ دا ټول داخل دی. هَٰذَا ذِكْرٌ تنوین د پاره د تنویع دے او نوع عظیم مراد ده یعنی دا چه تیر شو ر واقعات د انبیاء علیهم السّلام یو قسم عظیم الشان نصیحت دے او ذکر جمیل د هغوی دے په دنیا کښ او هر چه په اخرت کښ دی نو وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ او دا لفظ ئے ځکه راوړو چه د

أَتْرَابٌ ﴿۵۲﴾ هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ

همزولې . دا هغه دی چه وعده یې کیدلے شوه تاسو سره دپاره د ورځ

الْحِسَابِ ﴿۵۳﴾ إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ

د حساب . یقینًا دا بخشش زمونږ دے نیشته دهٔ لره

مِنْ نَفَادٍ ﴿۵۴﴾ هٰذَا ۚ وَإِنَّ لِلطّٰغِينَ

هیڅ خلاصیدل . دا یل قسم ذکر دے، او یقینًا سرکشانو د پاره

سورةٔ داول سره مربوط شی (والقرآن ذی الذکر) وَإِنَّ عطف دَ مضمون دے په مضمون دَ ماقبل باندے هذا ذکر رؤساء التقوی فی الدنیا واما ذکرهم فی الاخرة وان للمتقین.

او په دے بشارت کښې لس امور ذکر کوی . حسن مأب . جنّات عدن بدل دے ماقبل ته . مفتحة لهم الابواب یعنی جنّت ته دَ داخلیدلو په وخت بیا جنّت کښې د ننه دَ بنګلو دروازے به دوی ته پرانستے وی لکه چه سورة زمر ۷۳ کښې دی . متکئین دا اجمالی حالت دے او نورو ایاتونو کښې تفصیل دے (علی الارائک متکئون . متکئین علی رفرف خضر) . يَدْعُونَ فِيهَا بِفَاكِهَةٍ كَثِيرَةٍ وَّشَرَابٍ یعنی رنګا رنګ میوے او ډیر قسمونه دَ مشروباتو .

حرف دَ با دَ پاره دَ ملابست دے یعنی آواز به ورکوی خادمانو ته نو هغوی به حاضرېږی متلبس به وی په میوؤ او شرابو . وَعِنْدَهُمْ قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ د بیان دَ مکان او خوراک او څکاک نه روستو دَ بیبیانو ذکر کوی او نظر کول د شځے خپل خاوند ته چه بل چاته نه ګوری اشاره ده دَ دوی دیر والی دَ حیا او محبت کولو ته دَ خاوندانو سره . اتراب یعنی په عمر کښې او په حسن او جمال کښې به برابر شان دی په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما کښې راغلی دی چه دَ ټولو عمر به دریش کلو ته وی یادا چه دَ خاوندانو سره به هم عمر وی . هٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوْمِ الْحِسَابِ یعنی ورځ دَ حساب دَ دوی دَ پاره ورځ دَ انعاماتو ده مناقشه دَ حساب نیشته . إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَالَهُ مِنْ نَفَادٍ . مراد دَ دے نه دوام دَ جنّت او دَ نعمتونو دَ هغے او دَ اهل جنت دے لکه عطاء غیر مجذوذ سورة هود ۱۰۸ او لهم اجر غیر ممنون تین ۶ دارد دے په هغه چا چه قول کوی په فنا دَ جنّت او دَ اهل جنّت سره

لَشَرَّ مَاٰبٍ ﴿٥٥﴾ جَهَنَّمَ يَصْلَوْنَهَا فَبِئْسَ
بد ځائے دَ ورتللو دے جهنم دے ورداخلیږی په دوی هغے ته نو ناکاره
الْمِهَادُ ﴿٥٦﴾ هٰذَا فَلْيَذُوْقُوْهُ حَمِيْمٌ
دَ ارام ځائے دے دا څو اوڅکې خوټکیدلے اوبه دی
وَّغَسَّاقٌ ﴿٥٧﴾ وَّاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖٓ اَزْوَاجٌ ﴿٥٨﴾
او وینے زوے دی او نور عذابونه دی دَ دے پشان قسما قسم ۔
هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ
دا یو ډله ده ورننوځی تاسو سره (ادیه وائی مشران) مرحبا (خوشحالی) نیشته دوی ته
اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿٥٩﴾ قَالُوْا بَلْ اَنْتُمْ
یقینًا دوی داخلیږی په اور ته ۔ دوی به اُوائی بلکه تاسو ،

دَ ھذٰہ نه سکلپورے۔ دا تخویف اخروی دے په مقابل دَ بشارت دَمتقینو
کښ او دا هم مشتمل دے په لس حالاتِ قبیحه دَ اهل جهنّم۔ هٰذَا مبتدا ده
خبر ئے حذف دے یعنی هذا ذکرٌ دا یو قسم ذکر وو یعنی دَ نعمتونو
دَجنّت ذکر ووَ اوس دَجهنّم حالت واورئے۔
وَاِنَّ لِلطّٰغِيْنَ مراد دَ دے نه کامل طغیان والا دے یعنی مشرک
لَشَرَّ مَاٰبٍ دا اول حال دے په مقابل دَ حسن مآب کښ۔ جَهَنَّمَ بیان دے
دَ شرماٰب۔ فَبِئْسَ الْمِهَادُ هغه ځیز چه دوی ځان دَپاره تیار کړے دے
یا مراد ترینه فراش دے۔ هٰذَا په دے کښ هم تقدیر دے یعنی الامر
هذا۔ یا هذا مبتدا ده حمیم وغساق ئے خبر دے او په مینځ کښ جمله
معترضه ده۔ غَسَّاقٌ هغه گندگی چه بهیږی په دَ بدنونو او دَ زخمونو دَ
جهنم والو نه۔ یا مقابل دَحمیم دے یعنی ډیریخ چه دَ ډیریخ والی دَ وجے
نه سوزول کوی۔ او حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی که چرے یوه بوقه
دَ غساق نه په دنیا کښ تویے کړے شی نو ټول دُنیا والا به بدبویه
شی۔ وَاٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖٓ اَزْوَاجٌ یعنی عذابٌ اٰخَرُ مِنْ شَكْلِهٖ ضمیر په تاویل
دَ مذکور سره حمیم او غساق ته راجع دے۔ اَزْوَاجٌ ډیر قسمونه دَ عذاب
به وی۔ هٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ دا ذکر دَ براءت دَ الهو باطلو او دَ

لَا مَرْحَبًاۢ بِكُمْ ؕ اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ۚ فَبِئْسَ

مرحبا نیشته تاسو لره ، تاسو رامخکښی کړے دے دا موږته نو تا کارځ

الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾ قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا هٰذَا

ځائے دے . اوبه وائي دوی اے ربه زموږه چا چه رامخکښې کړے موږ ته دا

فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِى النَّارِ ﴿٦١﴾ وَقَالُوْا

نو زیات کړے هغه لره عذاب دوچند په اور کښ . او دوی به اووائي

مَا لَنَا لَا نَرٰى رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُمْ

څه وجه ده موږ لره چه نه وینو هغه سړی چه شمارل به موږ هغوی لره

مِّنَ الْاَشْرَارِ ﴿٦٢﴾ اَتَّخَذْنٰهُمْ سِخْرِيًّا

دَ شر والو نه . ایا ګرځولے دو موږ هغوی لره مسخره کړے شوی

اَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْاَبْصَارُ ﴿٦٣﴾ اِنَّ ذٰلِكَ

یا کوږے دی دَ دوی نه سترګے زموږ . یقینًا دا

عابدانو دَ هغوی دے دَ یو بل نه . یعنی هرکله چه مشران دَ دوی جهنم ته
مخکښی داخل شویدی او تابعداران دَ هغوی به ملائکو رار وان کړے
وی او دَ هغوی ته به ئے روستو داخلوی نو ملائک به اووائي مشرانو دَ
دوی ته هٰذَا فَوْجٌ غټ جماعت ته فوج وائي مُّقْتَحِمٌ په زور سره داخلولو
ته تنګ ځائے کښ اقتحام وائي . ځکه چه دَ دوی ځایونه به په جهنم کښ
تنګ وی . لَا مَرْحَبًاۢ بِهِمْ دا قول دَ دوی دَ مشرانو دے او دا دعاءِ شر ده
یعنی دوی له دِ فراخی نصیب نه شی یا جمله خبریه ده اِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ
دا هم قول دَ مشرانو دے او علت دے دَ لا مرحبا دپاره . بَلْ اَنْتُمْ
لَا مَرْحَبًاۢ بِكُمْ یعنی تاسو دَ دے (عدم وسعت) حقدار یئ او علت ئے
دا دے چه اَنْتُمْ قَدَّمْتُمُوْهُ لَنَا ضمیر کفر او شرک ته راجع دے چه په
قرینے سره معلومیږی . فَبِئْسَ الْقَرَارُ قرار آرام ته ویلے کیږی نو دا
جمله په طریقه دَ تهکم او دَ زورنے سره ده قَالُوْا رَبَّنَا مَنْ قَدَّمَ لَنَا تقدیم
په طریقه دَ دعوت سره دے یعنی څوک چه داعی وی شرک ته نو
هغه دَپاره دوچند عذاب پکار دے لکه سورة احزاب ۶۸ کښ راپاتے په یل ع

لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾ قُلْ إِنَّمَا

واقع خبره ده جګړه ده د اور والو - ته اُوایه یقیناً

أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ

زه ویره ورکوونکے یم او نیشته هیڅ حقدار د بندګئ سوا د الله تعالی نه چه یو دے

الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا

زور آور دے - رب د اسمانونو او د زمکے دے او د مینځ د دے دواړو

الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾ قُلْ هُوَ نَبَأٌ

زور آور دے بخنه کوونکے دے - ته اُوایه دا خبر

تیر شوید ی - وَقَالُوا لَا نَرَىٰ رِجَالًا دا قول د کشرانو او مشرانو د ټولو دے او په دے کښ اشاره ده لکه چه د دوی د تابعدارے کولو نتیجه ناکاره ښکاره شوه نو دا رنګ د دوی دا ګمان هم غلط ثابت شو چه دوی په توحید والو ته اشرار وئیل او حال دا دے چه هغوی په جهنم کښ نیشته معلومه شوه چه هغوی اخیار وو او دا عادت د جاهلانو اوس هم جاری دے چه دوی داعیانو د توحید او سنت او هر حق پرستو ته شریان وائي خو قیامت کښ به دوی ته معلومه شي - أَتَّخَذْنَاهُمْ په دے کښ همزه استفهامي موجود دے او همزه وصلی حذف شوید ے او دا استفهام تقریری دے - حاصل د قول د دوی دا دے چه مؤحدین چه مونږ ورته شریان وئیل په جهنم کښ دی هر مونږ ته نه ښکاریږي یا خو زمونږ نظر خراب دے یا هسے ترینه سترګے اوړیدلے دی - ام زاغت عنهم الابصار مراد دا چه په دنیا کښ د دوی د مرتبے او د حقیقت نه زمونږ نظرونه بند وو یا دا چه اوس په جهنم کښ زمونږ سترګے د دوی نه کږے شویدی - تَخَاصُمُ یعنی د مشرانو او کشرانو په مینځ کښ دغه خبرے کول دا خصومت دے په اور د جهنم کښ -

۶۵ - ۶۶ :- دا دعوی د توحید ده تفریع ده په ماقبل بیان یا ندے او دا متعلق دے د ابتداء د سورت سره په ذکر د صداقت رسول او توحید سره او د اثبات د توحید د پاره ئے پنځه اسماء الهیه ذکر کړیدی -

عَظِيْمٌ ﴿۶۷﴾ اَنْتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُوْنَ ﴿۶۸﴾

لوے شان والا دے | تاسو | د دۀ نه | مخ گرځوونکی | یئ

مَا كَانَ لِيَ مِنْ عِلْمٍ بِالْمَلَاِ الْاَعْلٰى

نیشته | ما لره | هیڅ | علم | په | مجلس | اوچت کښ

اِذْ يَخْتَصِمُوْنَ ﴿۶۹﴾ اِنْ يُّوْحٰى اِلَيَّ اِلَّا

کله چه | هغوی کورنۍ کښ خبرے کولے۔ | دی | نه کیږی | ما ته | مګر

سـ۶۷ سـ۶۸ ۔ دا بیان دَ عظمتِ شان دَ مسئلے دَ توحید دے او ورسره زجر دے اعراض کوؤنکو ته۔ هُوَ ضمیر توحید ته راجع دے او دا رنګ قران ته او په دے سورت کښ ما قبل ټول ذکر ته اشاره کیدیشی۔

سـ۶۹ ۔ دَ دے آیت نه تر آخره پورے دریم باب دے په دے کښ صداقت رسول بیانوی په نفی دَعلم غیب سره دَ هغه نه۔ بیا ذکر دَ ابتلاء دے ملائکو او ابلیس یا نسلے په امر دَ سجود سره آدم علیه السّلام ته او آخر کښ صداقت رسول او دَ قران ذکر کوی دَ پاره دَ موافقت دَ اول دَ سورت سره۔

په دے (۶۹) کښ صداقت دَ رسول ذکر کوی دَ پاره دَ رد په معرضینو چه تیر شوے آیت کښ هغوی ته زجر ووؤ حاصل دا چه تاسو په څه وجه سره اعراض کوئے حال دا دے چه دے پیغمبر په خپل علم سره دا خبرے نه دی کړی بلکه په وحی سره ورته خبر ورکړے شوے دے۔ دَ دے آیت په تفسیر کښ مشهور دوه قولونه دی۔

اول قول دا دے چه مَلَاِالْاَعْلٰى نه مراد ملائک دی او اختصام نه مراد بحث کول دی دَ ملائکو او دَ الله تعالیٰ په باره دَ استخلاف دَ آدم علیه السلام او دَ سجدے کښ چه په سورة بقره کښ ذکر شوے دی۔ اختصام صرف سوال او جواب ته ویلے کیږی جګړه پورے خاص نه دے۔ دویم قول حدیث دے په روایت دَ عبد الرحمٰن بن عائش سره چه ترمذی او حاکم او تفسیر خازن او قرطبی وغیرهم دلته ذکر کړے دے او اختصام په کفاراتو او رفع درجاتو کښ دے۔ لیکن اول قول صحیح دے ځکه چه روستو دَ هغے ذکر راروان دَے پاتے په بل مخ)

أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٧٠﴾ إِذْ قَالَ رَبُّكَ

دَ دے وجے نه چه زه ویره ورکوونکے ښکاره یم. کله چه اوویل ستا رب

لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ﴿٧١﴾

ملائکو ته. یقینًا زهٔ پیدا کوونکے یم بشر لره دَ خټو نه.

فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى

نو کله چه زهٔ یے برابر کړم او پو کمه په هغه کښ دَ روح خپل نه.

په اذ قال ربك للملائکه "اه سره دویم داچه دغه حدیث ثابت نه دے تفصیل یئے په تفسیر خازن کښ دے حاصل یئے دا دے امام بخاری ویلے دی چه "عبدالرحمن بن عائش یو حدیث دے او په هغے کښ هم اضطراب (ردَ ستن) دے او امام بیهقی ویلے دی دا حدیث په ډیرو سندونو سره نقل شوید ے او هغه ټول ضعیف دی او په ثبوت دَ دے حدیث کښ اعتراض دے. اوکتاب الجرح والتعدیل دَابن ابی حاتم ص۲۶۲ ج۵ کښ ویلے دی چه هغه څوک خطا شویدی چه چا ویلے دی چه عبدالرحمان بن عائش صحابی دے. صحابی نه دے او ابوذرعه ویلے دی چه دے معروف نه دے.

(سوال) که اوویلے شی چه امام ترمذی دے ته صحیح ویلے دی؟

(جواب) محدثین تصحیح دَامام ترمذی ته اعتبار نه ورکوی هرکله چه جرح تفصیلی وی. دَدے تحقیق نه معلومه شوه چه دَ دے حدیث دَ الفاظو نه تجلی لی کل شی یا علمت ما کان ومایکون نه بریلوی عقیدے والا دلیل نیسی په علم غیب کلی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے نو دا استدلال یئے غلط دے ځکه چه حدیث ضعیف دے.

ف: په دے کښ سبب دَ علم دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کوی چه هغه وحی ده او علم چه سبب ته محتاج وی هغه ته شرعًا علم غیب نشی ویلے کیدے. إِلَّآ أَنَّمَآ دلته لام مقدر دے إِلَّا لانّما یعنی دَ دے وجے نه چه زه نذیر مبین یم یا انما مصدریه ما بعد یے تاویل دَ مصدر کښ دے معنیٰ دا ده وحی نه کیږی مگر دَ انذار. اوله معنیٰ غوره ده.

ف ۷۱، ف ۷۲، ف ۷۳، ف ۷۴: په دے آیاتو کښ تفصیل دَ مختصمون دے

فَقَعُوْا لَهٗ سٰجِدِيْنَ ﴿۷۲﴾ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ

تو شئ هغه ته سجده کوونکی - نو سجده اوکړه ملائکو

كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ﴿۷۳﴾ اِلَّآ اِبْلِيْسَ ط

ټولو په جمع سره مګر ابلیس.

اِسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ قَالَ

لوئی اوکړه او وؤ دے دَ کافرانو نه. اُوئیل الله تعالیٰ

اودلته دا واقعه ذکر کوی دَپاره دَ دے چه په ملائکو او په ابلیس باندے هم ابتلاء کړے شوے ده په مکلّف کولو دَ دوی په سجود آدم علیه السّلام ته او په چا باندے چه ابتلاء راځی نو هغه دَ الله تعالیٰ سره شریک یا شفیع قهری نشی کیدلے او دارد دے په مشرکین بالملائکه والجن باندے. بشرًا سوال دادے چه مخکښ دَ دے نه دوی بشر نه پیژندلو نو څرنګه دوی ته خطاب کښ بشرًا ذکر کړو؟ جواب! دلته مراد معنیٰ وصفی ده یعنی داسے مخلوق پیدا کوم چه دَ هغه وجود او بدن به همیشه ښکاریږی مګر په هغه وخت چه په لباس وغیره سره ئے پټ کړی او هرچه ملائک او جنات دی نو همیشه نه ښکاریږی. رُوْحِیْ هغه روح چه په هغے کښ دَ الله تعالیٰ نه سِوا دَبل چا ملکیت او اختیار نیشته او صِرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے هیڅ ظاهری سبب ئے نیشته دَ دے خصوصیت دَ وجے نه الله تعالیٰ ته ئے اضافت اوشو. فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ دَ دے عبارت نه پروانده تقدیر دے یعنی هرکله چه پیدا ئے کړو او روح ئے پکښ واچوؤ او علم دَ اسمائهم ورکړو نو بیا ئے په (امر تمیزی) سره ملائکو ته اوئیل اسجدوا لآدم او دا تقدیر په قرینه دَ سورۃ بقره سره دے. كُلُّهُمْ دَ تاکید دَپاره دے یعنی ملائکو نه هیڅ څوک مخالفت کوونکے نه وؤ. اَجْمَعُوْنَ په دے کښ اشاره ده هیئتِ اجتماعیه ته یعنی په یو جماعت سره ئے سجده اوکړه جدا جدا شوے نه دی. او دا سجود دَ تحیه (سلام) کولو په طریقه سره ده چه مخکښو امتونو کښ جائز وه لیکن صرف په سرخکته کولو سره وه په طریقه دَ عبادت او سر په زمکه کیخودلو سره نه وه. (رپاتے په بل مخ)

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ

اے ابلیس څه شي منع کړے ته د سجدے کولو نه هغه چاته چه ما جوړ کړے دے

بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ مِنَ ٱلۡعَالِينَ ﴿٧٥﴾

په دواړو لاسونو خپلو آیا لوئي د اوکړه او که یې ته د اوچتو خلقو نه.

قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَ

اوویل هغه زۀ غوره یم د دۀ نه تا زۀ پیدا کړے یم د اور نه او

خَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ﴿٧٦﴾ قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا

دے دې پیدا کړے دے د خټې نه - اوویل الله تعالیٰ اوځه د دے ځائې نه

او زمونږ امت کښې تحیه صرف السلام علیکم ورحمة الله برکاته ویل دی او ورسره مصافحه او معانقه کول هم په سنت سره ثابت دی لیکن سر ښکته کول په وخت د سلام کښې منع دی. ځکه چې هم دا بحث تفسیر سورتونو کښې تیر شوے دے.

۷۵ ځکښې الله تعالیٰ علت د سجدے نه کولو ذکر کړو چه استکبار دے لیکن بیا هم د ابلیس نه تپوس کوی د دے د پاره چه د دۀ دروغ هم ښکاره شی. حاصل د تپوس دا دے چه ستا د سجدے نه کولو دوه علتونو کښې یو علت وی یا به دے هسې دعویٰ د لوئې کړے وی یا په حقیقت کښې لوے یې - خَلَقۡتُ بِيَدَيَّ دا تثنیه دلیل دے چه مراد د يَدَيۡن نه لاسونه دی په معنیٰ ظاهری سره لیکن کیفیت د هغې بانده الله تعالیٰ عالم دے مونږ پکښې بحث نشو کولے دا مذهب د ټولو سلفو صالحینو دے تاویل کول په قدرت یا نعمت وغیره سره د قران نه مخالفت کول دی او په دے تعبیر کښې اشاره ده عظمت د شان د آدم علیه السلام ته چه سبب د سجود د هغه دے.

فائده :- سورة اعراف کښې " ان لا تسجد اذ امرتك " ووجه د فرق دا ده چه هلته ذکر وؤ چه سجده مامور به ده او د مامور به خلاف کول دا دے چه نه یې کوی نو د دے وجے نه لا تسجد یې ذکر کړے او دلته خَلَقۡتُ بِيَدَيَّ کښې سبب د امر د سجدے ته اشاره ده نو دلته لفظ د تسجد مناسب دے (والله اعلم)

۷۶ د سلاک نه تر ۸۳ پورے - دا جواب د ابلیس دے په اختیار د دویم شق سره یعنی زه په حقیقت کښې لوے یم او دا ښکاره دروغ دی - خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ دا دلیل د دعوے دے او د دلیل دویمه مقدمه پټه ده یعنی اور غوره دے د خټو نه نو نتیجه یې دا

فَإِنَّكَ رَجِيمٌ ﴿٧٧﴾ وَإِنَّ عَلَيْكَ لَعْنَتِي

یقینًا ته رټلے شوے یې . او یقینًا په تا باندے لعنت زما دے

إِلَىٰ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٧٨﴾ قَالَ رَبِّ فَأَنظِرْنِي

تر ورځے د جزا پورے . اُوویل ابلیس اے ربه زما مهلت راکړه ماله

إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿٧٩﴾ قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ

تر ورځے د دوباره ژوندي پورے . اُوویل الله تعالیٰ یقینًا ته یې د

الْمُنظَرِينَ ﴿٨٠﴾ إِلَىٰ يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ ﴿٨١﴾

مهلت ورکړے شوؤ نه تر ورځے د وخت مقرر شوی (په علم د الله تعالیٰ کښ) .

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٨٢﴾

اُوویل ابلیس نو قسم دے ستا په عزت باندے خامخا ګمراه به کړم ټولو لره

إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ ﴿٨٣﴾ قَالَ

مګر بندګان ستا د دوی نه چه ټه ساتلے شوے دی . اُوویل الله تعالیٰ

شوکا چه زه د دهٔ نه غوره یم . او دا دلیل یعنی (کبرٰی) باطله ده ځکه چه د
خټو فائدے د اور نه ډیرے دی یو خو دا ده چه په هغے کښ دوه جنسونه دی
خاورے او اوبه او د هر یو جدا جدا فائدے دی او اور خو یو جنس دے بل دا
چه د انبات او د ترقئ ماده خټے دی او اور د ختمولو د خیز د پاره ماده ده او نور
هم ډیر فرق دے نو قیاس یې په مقابله د نص د الله تعالیٰ کښ پیش کړے
دے دا یو ګمراهي ده او بیا دا قیاس یې فی نفسه باطل دے دا بله ګمراهي ده .
لَعْنَتِيْٓ سورة حجر کښ " اللعنة " یې ذکر کړے دو په هغے کښ الف لام
عوض دے د مضاف الیه نه او دلته تصریح ده په مضاف الیه ځکه چه دلته
سبب د امر بالسجود ذکر کړے شوید ے او د هغے باوجود ابلیس انکار کړے دے
نو دا مقام د ډیر تاکید دے او نور تحقیق سورة حجر کښ تیر شوید ے .
قَالَ فَبِعِزَّتِكَ په دے قسم کولو کښ د ابلیس خباثت نفسانی باندے دلیل دے
یعنی وایئ چه زه ستا عزت منم او د آدم علیه السلام عزت نه منم او حال دا چه
د هغه عزت یې په خَلَقْتُ بِيَدَيَّ سره ذکر کړے دے .
فائده :- د دے واقعے ماقبل سره یو ربط دا دے چه (پاتے په بل مخ)

قَالَ فَالْحَقُّ ز وَالْحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾ لَأَمْلَئَنَّ

پس دا خبره حقه ده او حق وایم زه - خامخا به ډک کړم

جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

جهنم ستا نه او د هغه چانه چه ستا تابعداری وی د دوی

أَجْمَعِينَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ

ټولو نه - ته اُوايه نه غواړم ستاسو نه په دے باندے

مِنْ أَجْرٍ وَّمَا أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾

هيڅ مزدوری او نه يم زه د دروغ جوړوونکو نه -

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾

نه دے دا مګر نصيحت دے د پاره د عالميتو -

مخکښ ئے د معرضينو ذکر کړے وو او دا اعراض د دوی د وجے د حسد نه وو نو په دے واقعه کښ د حسد د ابليس عاقبت ئے ذکر کړو.

س۸۴ س۸۵ .. الْحَقُّ خبر د مبتدا محذوف دے يعنی انا الحق ياهذا الحق يا مبتدا ده او خبر ئے محذوف دے (الحق منی) او مراد د دے نه راتلونکے جمله ده.

لَأَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ اه - وَالْحَقَّ أَقُولُ په دے کښ عام حق مراد دے يعنی د الله تعالیٰ هر قول حق دے قول د الله تعالیٰ په حق کښ منحصر دے . او دا جمله په سورة السجده س۱۳ او سورة هود س۱۱۹ کښ تيره شوے ده او هغه دواړو آيا تونو کښ الْجِنَّةِ والناس ئے مطلق ويلی دی او په دے آيت کښ مقيدا کړے دے په تابعدارے د ابليس سره نو دا د هغے تفسير اوګرځيدو .

س۸۶ س۸۷ .. روستو د زجر نه معرضينو ته تخويف وو هغوی ته په عاقبت د ابليس سره اوس ذکر کوی صداقت د نبی صلی الله عليه وسلم په اول آيت کښ او صداقت د قرآن کريم په دويم آيت کښ - او هر کله چه مانع د صداقت نه دوه څيزونه دی . يو طمع د اجر د عوض چه د هغے په وجه پوره حق نشی بيانيدے او دويم د ځان نه خبرے جوړول نو دا دواړه څيزونه ئے نفی کړل - الْمُتَكَلِّفِينَ تکلف عام دے د ځان نه خبرے جوړول او ځان کښ د داسے صفتونو دعوی کول چه هغه په کښ نه وی . او بغير د علم نه فتوی ورکول.

وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَاَهٗ بَعۡدَ حِيۡنٍ ﴿۸۸﴾

او خامخا پوهه به شئ په خبر د دهٔ بانديے څه وخت روستو۔

او په دے کښ حديث دَ عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دے چه څوک په يو خبره او مسئله باندے علم لری نو په هغے باندے دے قول کوی او څوک چه دَيو مسئلے علم نه لری نو او دِ وائي چه زهٔ نه پوهيږم ځکه چه دا هم علم دے چه په کومه خبره نه پوهيږے او اوائے چه زه نه پوهيږم او بيا ئے دا ايت کريمه اولوستلو۔

۸۸:۔ دا زجر دے چه اوس تاسو انکار کوئے ليکن څه وخت روستو به په دنيا کښ په وخت دَ عذاب کښ يا په وخت دَ مرګ کښ يا په قيامت کښ به دَ حقيقت نه خبر شئ. نَبَاَهٗ حقيقت حال دَ قران ۔ يا خبر دَ عاقبت دَ انکار دَ دهٔ ۔ يا کوم خبرونه چه قران درکړيدی، دا لفظ دے ټولو ته شامل دے ۔

الحمد لله چه تفسير دَ سورة صٓ ختم شو

سُوْرَةُ الزُّمَر ۳۹ مَكِّيَّةٌ ۵۹ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۷۵ رُكُوْعَاتُهَا ۸

تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

نازلول د دے کتاب دی د طرف د الله تعالیٰ نه چه زورآور دے حکمتونو والا دے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة زمر او د دے پل نوم سورة غُرَف دے.

ربط د دے سورة د ما قبل سره په دیرو طریقو سره دے. اوله طریقه داده چه په تیرشوے سورتونو کښ عجز او ابتلاگانے د بزرگانو ذکر کړے معلومه شوه چه هغوی د الله تعالیٰ شریکان او زورآور سفارشیان نشی کیدے نو اوس په دے سورت کښ د هغے نتیجه ذکر کوی چه هغه توحید فی العبادت دے.

دویمه طریقه چه سورة ص کښ انکار د دوی د توحید نه ذکر کړو نو په د سورت کښ تفصیل د عقیدے د مشرکانو او عقلی دلیلونه په توحید باندے ذکر کوی.

دریمه طریقه داده چه د هغه سورت په آخر کښ ذکر کړل "ولتعلمن نبأه بعد حین" نو په دے سورت کښ نبأ د قرآن یعنی صداقت او دعویٰ د قرآن ذکر کوی.

دعویٰ د سورت - رد دے په شرک فی العبادات والالوهیة باندے په عقلی دلیلونو سره او په رد کولو د ټولو قسمونو د شرک اعتقادی سره (شرک فی العلم، شرک فی التصرف، شرک فی العبادت، شرک فی الدعا)، رد په اتخاذ الولد لله او رد په شفاعتِ قهریه باندے. او په ذکر د مقابلے په مینځ د حال د موحدینو او د حال د مشرکانو کښ په صفاتو او په جزاگانو سره.

(تنبیه) په دے سورت کښ دلیلونه د دعوے سره پوره مناسب دی یعنی په دلیلونو کښ د خالقیت او مالکیت او ربوبیت (په روزئ پیدا کولو او په خوب او مرګ راوستلو سره) دا ټول ذکر دی او خالق، مالک، رب ضرور حقدار د عبادت وی.

خلاصه د سورت - دا سورت تقسیم دے پنځه بابونو ته - اول باب

إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدِ اللّٰهَ

يقيناً نازل كړيدے موږ تاته دا كتاب د حق سره نو بندګي كوه الله تعالیٰ لره

مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ② أَلَا لِلّٰهِ الدِّيْنُ

خالص كوه هغه لره بندګي . خبر شئ خاص الله تعالیٰ لره دين (بندګي)

ترس۲ پورے دے. په دیکښ ذکر دَ صداقت دَ قران دے او بیا ذکر دَ مقصد دَ قران چه توحید فی العبادة دے بیا رد دے په دوه عقیده دَ مشرکانو باندے یو عقیده دَ وسیلے شرکیئ او دویمه عقیده دَ اتخاذ الولد ده بیا دوه عقلی دلیلونه دی چه په هغے کښ خالقیت دَ الله تعالیٰ ذکر کوی بیا دوه زجرونه دی بیا بیان دَ تقابل دَ موحد او دَ مشرک دے په دوه ایاتونو کښ. بیا په څلورو ایاتونو کښ په دلائلو وجیبو سره مسئله دَ توحید فی العبادت ذکر کوی بیا تخویف اخروی دوه ایاتونو کښ بیا تقابل دَ فریقینو دے په څلورو ایاتونو کښ.

(تفسیر)

س۱. په دے ایت کښ ذکر دَ صداقت دَ قران کریم دے. او تعریف دَ هغه دے په دے صفت سره چه منزل من الله دے افتراء نه ده. العزیز اشاره ده صفاتو دَ قدرت ته الحکیم اشاره ده صفاتو دَ علم ته.

س۲. په دے ایت کښ ذکر دَ مقصد دَ نزول قران دے چه دَ هغے نه ئے اجمالی تعبیر کړے دے په بِالْحَقِّ سره یعنی دا قران متلبس (مشتمل) دے په حق باندے بیا تفصیل دے دَ هغه مقصد چه حق دے په فَاعْبُدِ اللّٰهَ سره چه توحید فی العبادت والالوهیت دے. (سوال) اول لفظ تنزیل دے چه دلالت کوی په لګ لګ نازلیدلو باندے او بیا لفظ دَ انزال دے چه په یو ځل نازلولو ته ویلے کیږی، دَ دے الفاظو دَ جمع کولو څه وجه ده؟

جواب اول دا دے چه قران موږ لګ لګ نازل کړیدے او په دے طریقے سره دَ ټول قران نزول پوره شویدے ګویا که په دے کښ دفع دَ وهم اوشوه چه په لګ لګ نازلولو سره په دے کښ نقصان نه دے راغلے.

جواب دویم دا دے چه فیصله کړے ده موږ قطعی فیصله چه تاته په پوره کتاب نازلوؤ نو هغه هم شورو کړے دے په لګ لګ نازلولو سره. یعنی انا انزلنا علت اوګرځید دَ یاره دَ تنزیل.

مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ دین په معنیٰ دَ عبادت دے (پاتے په بل مخ)

الْخَالِصُ ۚ وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ
خالص دے ، او هغه کسان چه نیولے دی سوا د الله تعالیٰ نه
أَوْلِيَاءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ
مددګاران (وائي) بندګي نه کوو مونږ د دوی مګر دے دپاره چه نزدے کړی مونږه الله تعالیٰ ته
زُلْفَىٰ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ فِي مَا هُمْ
په نزدے کولو سره یقینًا الله تعالیٰ به فیصله اوکړی په مینځ د دوی کښ په هغه څیز کښ چه دوی
فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ
په هغے کښ اختلاف کوی ، یقینًا الله تعالیٰ توفیق نه ورکوی هغه چاته
هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ③ لَّوْ أَرَادَ اللَّهُ أَن يَتَّخِذَ
چه ډیر دروغژن دے ډیر کفر کوونکے دے. که غوختلے الله تعالیٰ چه جوړ کړی ځان له

او اخلاص نه مراد توحید دے ځکه چه عبادت بغیر د توحید نه معتبر نه دے او په دے کښ اشاره ده چه هر عبادت په نیت باندے موقوف دے.

ت :۔ هر کله چه د اخلاص د عبادت د الله نه ډیر خلق غافل وو په شرک او په ریا وغیره کښ مبتلا وو نو د هغوی د تنبیه دپاره ئے په حرف د تنبیه سره او فرمائیل اَلَا لِلّٰهِ الدِّیْنُ الْخَالِصُ او دا علت د امر د اخلاص فی العبادت دے. الْخَالِصُ هغه عبادت دے چه خالی وی د هر قسم شرک او ریاء او سمعة او د اجرت دنیویه وغیره نه. او د مجاهد نه نقل دے چه دلته الدین شامل دے ټولو اوامرو او نواهیو ته چه په ټولو کښ خلوص شرط دے دپاره د صحت او د قبولیت.

او بیا رد دے په مشرکین فی العبادت باندے چه څوک د الله تعالیٰ نه سوا د مخلوق عبادت کوی او بهانه کوی چه دا زمونږ دپاره الله تعالیٰ ته د نزدیکت وسیلے دی مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِیَآءَ دا لفظ شامل دے تمام ما سوی الله تعالیٰ ته که ملائک وی یا انبیاء یا اولیاء او هغه بتان چه د دوی په شکلونو باندے جوړ کړے شوے وی او دا رنګ د هغوی قبرونو ته هم شامل دے۔ دلته مراد د اولیاء نه معبودان دی۔ مَا نَعْبُدُهُمْ دا جمله مستانفه ده جواب د سوال دے یعنی که دوی ته اووئیلے شی چه د غیر الله عبادت نه

وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۙ

ولد خاځا غوره کړے به يُے دوُ دَ هغه څانه چه پيدا کوی هغه چه خوښ يُے شی ۔

سُبْحٰنَهٗ ؕ هُوَ اللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ④

پاک دے هغه دَ ولد نه هغه الله تعالیٰ دے يو زور آور دے ۔

ولے کوئے ايا دوی خدايان ګنړے نو دوی جواب کوی چه خدايان يُے نه ګنړو ليکن وسيلے يُے ګرځوو الله تعالیٰ ته نو دَ دوی دَ رضا ساتلو دَپاره دَ دوی عبادت کوو نو دَ ما نعبدهم نه وړاندے يقولون لفظ پټ دے ۔ او تفسير قرطبی کښ ويلے دی چه دَ دوی دَ دے بهانے کولو جواب په سورة احقاف ۲۸ کښے دے او دلته صرف زجر ورکوی ځکه چه دوی دَ قرآن دَ مقصد نه خلاف کوی ۔ او ابن کثير تفسير کښ ويلے دی چه دغه مشرکانو بتان جوړ کړے وو په شکلونو دَ ملائکو مقربينو سره په خپل ګمان باندے او دَ دغه شکلونو عبادت يُے کوُ په دے عقيدے سره چه عبادت دَ دے شکلونو بعينه عبادت دَ ملائکو دے او دا دَ دے دَپاره چه الله تعالیٰ ته زمونږ سفارش اوکړی په مدد کولو او روزئے راکولو کښ او نورو حادثاتو د نيوېو کښ او دَ آخرت نه خو دوی منکر وو (او بيا يُے ليکلی دی) دا شبهه دَ تير شوُ مشرکانو وه او اوس هم ده او رسولانو دَ دے شبهے دَ رد دَپاره رااليږلے شوی دی ۔ (نو زه وايم) "چه هر کله دَ ملائکو وسيلے ګنړل او دَ هغوی عبادت کول شرک دے نو دَ پيرانو او دَ قبرونو دَ هغوی وسيلے نيول او هغوی ته سجدے لګول او دَ هغوی دَ قبرونو نه طوافونه کول او دَ هغوی نذرانے ورکول (چه دا عبادت دی) دا يقيناً شرک دے"۔ فيما هم فيه يختلفون يعنی مشرکان وائی چه دا وسيلے دی دا سفارشيان دی او زمونږ حاجات په الله تعالیٰ باندے پوره کوی او کورنئے کښ اختلاف دے په طريقو دَ عبادت دَ غير الله کښ او دَ مؤمنانو سره يُے اختلاف دے په توحيد فی العبادت کښ نو دَ دے فيصله عملی به (دَ جزا او سزا) دَ قيامت په ورځ اوکړے شی ۔ او بحيله يه دغه معبودان دَ دوی نه انکار اوکړی لکه سورة سبا ۴۰ کښ او احقاف ۶ کښ او فاطر ۱۴ کښ چه ذکر دی ۔ کاذب دروغژن دے په دعویٰ دَ تقرب الی الله کښ ۔ کفار منکر دے په زړه کښ دَ توحيد دَ الله تعالیٰ نه چه دَ ټولو انبياء عليهم السلام اتفاقی مسئله ده او دَ قرآن دَ نزول مقصد دے او دَ دے وجے نه يُے صيغه دَ مبالغے ذکر کړے ده ۔

۴ : دا هم زجر او رد دے په مشرکين فی العبادت باندے (رباني په بل مخ)

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ يُكَوِّرُ

پیدا کړی دی آسمانونه او زمکه د حق څکاره کولو دپاره رانغاړی

الَّيْلَ عَلَى النَّهَارِ وَيُكَوِّرُ النَّهَارَ عَلَى الَّيْلِ

شپه په ورځ باندے او رانغاړی ورځ په شپه کښ

وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَّجْرِىْ

او په خدمت کښ لګولے دی نمر او سپوږمۍ دا ټول چلیږی

لِاَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ اَلَا هُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ ⑤

دپاره د نیټے مقررے خبردار خاص الله تعالیٰ زورور بخنه کوونکے دے۔

چه دوی عبادت د غیرالله کوی نو بهانه کوی چه دا اولاد الله نازولے دی الله تعالیٰ دوی خپل نائبان ګرځولے دی او دوی ته ئے د الوهیت د کارونو اختیار ورکړے دے او دا معنیٰ د اتخاذ الولد ده نو په دے آیت کښ د دے عقیدے رد کوی او اوس هم دا عقیده په ډیرو جاهلانو کښ موجود ده۔ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا لَّاصْطَفٰى مِمَّا يَخْلُقُ یعنی که چرے الله تعالیٰ ولد نیولے نو ستاسو خوښ ته به ئے نه سپارلو بلکه بخپله خوښه به ئے نیولے وُو او تاسو ته به ئے خبر درکړے وے لیکن الله تعالیٰ بخپل هیڅ کتاب کښ دا خبر نه دے ورکړے چه فلانکے ولد د الله تعالیٰ دے۔ اَلْوَاحِدُ دا سے یو دے چه د هغه ته ولد نه پیدا کیږی او دا رنګ یو دے په تصرف کولو کښ نو ولد ته حاجت نه لری۔ اَلْقَهَّارُ په هرڅه او په هرچا باندے زورور دے نو ولد او نائب ته هیڅ ضرورت نه لری۔

ف ۵:۔ د توحید فی العبادت د اثبات د پاره دا اول دلیل عقلی دے او دا آفاقی دلیل دے دلالت کوی چه الله تعالیٰ خالق دے او رب متصرف دے په اجزاؤ د زمانه کښ چه شپه او ورځ دی او په اسبابو د تغیر د زمانه کښ چه نمر او سپوږمۍ دی۔ يُكَوِّرُ تکویر رانغختلو ته ویلے کیږی مراد تربینه پېټول دی او هرکله چه په حساب شرعی کښ شپه مخکښ ده د ورځ نه د دے وجے نه د شپے ذکر ئے مخکښ کړے دے په ورځ باندے۔ اَلْغَفَّارُ یعنی بخنه کول د وجے د عجز نه نه دی بلکه سره د دے نه چه زورور دے لیکن مؤمنانو ته بخنه کوی او د کافرانو نه عذاب روستو کوی۔

خَلَقَكُم مِّن نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ ثُمَّ جَعَلَ

پیدا کړی یې تاسو د نفس یو نه بیا یې پیدا کړے ده

مِنْهَا زَوْجَهَا وَاَنْزَلَ لَكُم مِّنَ الْاَنْعَامِ

د هغه نه ښځه د هغه او پیدا کړی دی تاسو لره د څاروو نه

ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ؕ يَخْلُقُكُمْ فِىْ بُطُوْنِ

اته جوړے پیدا کوی تاسو په خیټو

اُمَّهٰتِكُمْ خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ فِىْ ظُلُمٰتٍ

د مایندو ستاسو کښې په یو پیدائش روستو د بل پیدائش نه په تیارو

ثَلٰثٍ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَهُ الْمُلْكُ ؕ

دریو کښې دغه الله تعالیٰ رب ستاسو دے خاص هغه لره ده بادشاهي

لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ ۞ ۶ اِنْ تَكْفُرُوْا

نیشته حقدار د بندګۍ سوا د هغه نه، نو څه رنګ اړولے کیدے شئ تاسو . که چرے کفر کوئے تاسو

۶: دا دویم دلیل عقلی انفسی دے په دے کښې هم خالقیت او تصرف د ربوبیت د الله تعالیٰ یې ذکر کړے دے. وَاَنْزَلَ لَكُم مِّنَ الْاَنْعَامِ انزل په معنیٰ د خلق دے تعبیر یې په انزل سره کړے دے ځکه چه انعام ژوندی پاتے کیږی په بوټو سره او بوټی پیدا کیږی په اوبو سره او اوبه د پاسه نه نازل کړے شویدی او دا رنګ هر یو پیدائش چه په اسمانی اسبابو سره وی نو د هغے نه تعبیر کولے شی په انزال سره. ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ لکه چه سورة انعام ۱۴۳، ۱۴۴ کښې تیر شویدی. خَلْقًا مِّنْۢ بَعْدِ خَلْقٍ لکه چه سورة مؤمنون ۱۴ کښې ذکر دی.

فِىْ ظُلُمٰتٍ ثَلٰثٍ یعنی مخلوق په یوه تیاره کښې هیڅ څیز نشی جوړولے او الله تعالیٰ په درے تیارو کښې برابر انسان جوړوی یوه تیاره د خیټے د مور دویمه د رحم (بچه دانی) دریمه د پریوان یعنی هغه باریکه پرده چه د بچی نه چاپیره وی. ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ دا یو نتیجه ده د ماقبل دلیلونو. لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دا دویمه نتیجه ده، فَاَنّٰى تُصْرَفُوْنَ زجر دے.

فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْ ۖ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ

تو یقینًا الله تعالیٰ بے حاجته دے ستاسو نه او نه خوښوی بندګانو خپلو لره

الْكُفْرَ ۖ وَإِن تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ ۗ

کفر کول او که چرے شکر کوئے تاسو نو خوښوی هغه تاسو لره

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۗ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم

او نه شی پورته کولے پورته والا پیټے د ګناه د بل چا بیا په طرف د رب ستاسو ته

مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۚ

ګرځیدل ستاسو دی نو خبر به درکړی تاسو ته په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئے

إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٧﴾ وَإِذَا مَسَّ

یقینًا هغه ښهٔ پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو پورے خاص وی۔ او کله چه اورسی

الْإِنسَانَ ضُرٌّ دَعَا رَبَّهُ مُنِيبًا إِلَيْهِ ثُمَّ

انسان ته تکلیف نو رابلی رب خپل اخلاص کوونکی هغه ته بیا

ک:۔ په دے ایت کښ ذکر دَ فریقینو دے روستو دَ دلیلونو نه۔ په اوله جمله کښ زجر دے او اشاره ده چه ستاسو دَ کفر کولو ضرر او نقصان الله تعالیٰ ته نه رسی بلکه تاسو ته رسیږی۔ او په دویمه جمله کښ جواب سوال دے چه دَ کفر ضرر په الله تعالیٰ باندے نیشته نو منع کول ترینه ولے کوی؟
جواب اوشو حاصل دا چه هیڅ مولیٰ دَ هر خپل مریٔ کفر (ناشکری) نه خوخوی تو الله تعالیٰ خو ډیر رحم کوونکے دے نو هغه دَ بندګانو دَ پاره کفر ځنګه خوخ کړی۔ او دَ دے ایت نه معلومه شوه چه اراده دَ الله تعالیٰ یو صفت دے او رضائے جُدا صفت دے اراده دَ هر څه کوی لیکن رضائے په هر څه پورے نه متعلق کیږی او دا مذهب دَ اهل سنّت والجماعت دے۔ او په دریمه جمله کښ بشارت دے په قبلولو دَ شکر او اشاره ده چه الله تعالیٰ ستاسو شکر ته محتاج نه دے او په څلورمه جمله کښ جواب سوال دے چه دَ کفر ضرر په الله تعالیٰ باندے خو نه راځی لیکن په هغه چا باندے راځی چه دَ ګمراه کولو مشران وی نو جواب اوشو وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ اه۔ او بیا روستو جملو کښ تخویف دے او هر کله چه دَ عملونو بنیاد دَ زړه نیت کول دی یعنی دارومدار ئے په زړهٔ باندے دے نو اَخر کښ ئے او فرمائیل إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ۔

إِذَا خَوَّلَهُ نِعْمَةً مِّنْهُ نَسِيَ مَا كَانَ يَدْعُوٓا

چه کله ورکړي هغه ته نعمت د خپل طرف نه هیر کړي هغه چه دهٔ به رابلله کوله (د الله تعالیٰ)

إِلَيْهِ مِن قَبْلُ وَجَعَلَ لِلَّهِ أَندَادًا لِّيُضِلَّ

هغه ته د دے نه مخکښ او جوړ کړي الله تعالیٰ لره شریکان د دے د پاره چه گمراه کړي خلق

عَن سَبِيلِهِۦ ۚ قُلْ تَمَتَّعْ بِكُفْرِكَ قَلِيلًا ۖ

د لارے د الله تعالیٰ نه ته اُوايه مزے واخله په کفر خپل سره لږه زمانه

إِنَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلنَّارِ ⑧ أَمَّنْ هُوَ

یقینًا ته د اُور والو نه یئے - آیا هغه څوک چه هغه

قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ

طاعت کوونکے وی په وختونو د شپے کښ سجده کوونکے او ولاړ ویره کوی

ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ ۗ قُلْ هَلْ

د آخرت نه او امید ساتی د رحمت د رب خپل نه ته اُوايه آیا

سِ۸ ، دا زجر دے مشرک ته چه هغه فریق اول دے په تناقض د معاملے د دهٔ سره چه په حالت د ضرر کښ الله تعالیٰ ته فریادونه کوی او په حالت د نعمت کښ شرک کوی۔ دا مضمون په سورة یونس سِ۲۳ او اسراء سِ۶۷ او سورة نحل سِ۵۴ سورة عنکبوت سِ۶۵ او سورة لقمان سِ۳۲ کښ هم تیر شوی دی۔

مُنِيبًا إِلَيْهِ په معنیٰ د اخلاص او د توحید دے یعنی په آواز کولو کښ ورسره شریک نه جوړوی۔ خَوَّلَهُ تخویل په ابتدائی عطیه کښ مستعملیږی سره د دے نه چه د هغه نعمت رعایت او تربیت هم کیږی۔ مَا كَانَ يَدْعُوٓا ، مَا په معنیٰ د ضرر دے۔ يَدْعُوٓا إِلَيْهِ په معنیٰ د یدعوا الی کشفه دے یا مَا نه مراد الله تعالیٰ دے۔ لِّيُضِلَّ لام د عاقبت دے او په معنیٰ لازمی او متعدی دواړو سره کیدیشی۔ قُلْ تَمَتَّعْ اه یعنی سرهٔ د شرک او د کفر نه الله تعالیٰ د دهٔ دُعاګانے قبلوی او نعمتونه ورکوی۔ دا د دنیا متاع او فائدے دی چه کافرانو ته هم ورکیدے شی دا دلیل نه دے چه دے د حق تابع دے۔

يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ

برابر دی، هغه کسان چه علم لری او هغه کسان

لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُوا الْأَلْبَابِ ﴿٩﴾

چه علم نه لری یقیناً نصیحت قبلوی خالص عقل والا.

قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ

ته اوایه اے بندګانو زما هغه کسان چه ایمان ئې راوړے ویره کوی د رب خپل نه.

لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ ۗ

دپاره د هغه کسانو چه اخلاص ئې کړے دے په دے دُنیا کښی خائسته حال دے

وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ ۗ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ

او مُلک (زمکه) د الله تعالی فراخه ده یقیناً پوره به ورکیدیشی صابرانو ته

ف۹۔ په دے کښی حال د فریق ثانی ذکر کوی په طریقه د تقابل د دواړو ډلو سره په صفتونو د عمل او د علم کښی۔ د مؤمن درے عملی صفتونه ئې ذکر کړے دی اول صفت قَانِتٌ دے مراد د قنوت نه طاعت دے۔ اٰنَاءَ الَّيْلِ هرکله چه د شپے قیام او مونځ کوی نو معلومه شوه چه د ورځے خامخواه کوی او دا صفت د محبت دے۔ دویم صفت يَحْذَرُ الْآخِرَةَ دا صفت د خوف دے ۳ وَيَرْجُوا رَحْمَةَ رَبِّهِ دا صفت د رجا دے۔ هرکله چه په دے سورت کښی مسئله د عبادت ده نو په دے ایت کښی د عبادت اجزاء ئې ذکر کړل۔ او د اَمَّنْ مقابل حذف دے یعنی کمن لایفعل کذالك۔ قُلْ هَلْ يَسْتَوِي دا فرق دے په صفت د علم او عدم علم کښی یعنی مؤحد چه درے صفتونه ځکنی لری دے عالم دے او مشرک چه دغه صفتونه په کښی نیشته هغه جاهل دے او په دے کښی اشاره ده چه کوم عالم کښی دغه درے صفتونه نه وی نو دے هم په نیز د الله تعالی جاهل دے او دا دلیل دے په فضیلت د علم باندے لیکن مراد د علم نه علم د توحید او شریعت دے سره د عمل نه۔ لکه ابوحیان وئیلی دی چه مراد د علم نه هغه دے چه معرفت د الله تعالی پرے حاصلیږی او د سخط د الله تعالی نه پرے بچ کیږی او روح المعانی په اشارات کښی وئیلی دی هغه کسان چه پیژنی قدر د معبود خپل نو د هغه نه غواړی او هغه کسان چه

أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ ⑩ قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ

ثواب دَ عملونو دَ هغوی بے حسابه . ته اُوایه یقینًا حکم کړے شوے ما ته

قدر دَ معبود نه پیژنی نو دَ ما سوا نه غواړی . إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ یعنی په دے فرق پانده هغه خوک پوهیږی چه عقل یئے دَ وهمونو دَ مقابلے نه خالی وی.

سلا . هرکله چه بیان کړے شو اوچت شان دَ ایمان والو اوس دَ هغوی فرائض ذکر کوی. تقوی ، احسان ، هجرت ، صبر او په دے باندے بشارت بیانوی. قُلْ يَا عِبَادِي ، دا امر دے رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته په رسولو دَ خطاب دَ الله تعالیٰ سره مؤمنانو ته ځکه چه کلام دَ رسول کلام دَ مرسل

وی یعنی اوایه اے رسوله زما دَ طرف نه (چه الله تعالیٰ وائی) اے بندګانو زما. او قول دَ جاهلانو غلط دے چه هغوی وائی چه دَ دے ایت نه معلومه شوه چه مونږه مؤمنان بندګان دَ رسول یو ځکه دا دَ دے سورت دَ دعوے نه هم خلاف راځی چه فَاعْبُدِ اللهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّينَ.

نو دا قول دَ جاهلانو تحریف او اثبات دَ شرک دے . الَّذِينَ آمَنُوا دا اشاره ده چه مراد دَ بندګانو نه عام نه دی بلکه هغه کسان چه دَ دے سورت دَ دعوے منونکی دی . فِي هَٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ مراد دَ حسنة نه جنت دے او فی هذه الدنیا متعلق دے په احسنوا پورے او مراد دَ احسان نه اخلاص دَ بندګئ دے (لکه چه په حدیث جبرائیل کښ راغلی دی) یا مراد دَ حَسَنَةٌ نه خائسته ژوند دَ دنیا دے یعنی هغه ژوند او مالونه چه دَ دین او اخرت دَ پاره خرڅ کیږی کوم چه ذکر دے په ربنا اتنا فی الدنیا حسنة الخ کښ او بنا په دے توجیه سره فی هذه الدنیا متعلق دے دَ حسنة سره .

وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ دا ترغیب دے هجرت کولو ته یعنی هرکله چه امر دَ تقوی او ترغیب احسان ته ذکر کړے شو نو وهم راغے چه بعض وخت پر یو ملک کښ په دے باندے عمل کول ګران شی نو خلاف کول په جائز وی ؟

نو جواب اوشو چه خلاف په نه کوی بلکه هغه ملک د پریږدی په هجرت کولو سره . او هرکله چه دَ هجرت په تکالیفو باندے دَ صبر کولو ضرورت دے نو وروستو جمله کښ دَ هغوی بشارت ذکر کړے شو .

أَنْ أَعْبُدَ اللّٰهَ مُخْلِصًا لَّهُ الدِّيْنَ ⑪

چه بندګی کوم د الله تعالی چه خالص کوونکے یم هغه لره بندګی

وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ ⑫

او حکم کړے شویدے ماته چه یم زه وړومبے د مسلمانانو نه ۔

قُلْ إِنِّيْٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ

ته اُوایه یقیناً زه ویریګم که چیرے نافرمانی اوکړم د حکم د رب خپل د عذاب

يَوْمٍ عَظِيْمٍ ⑬ قُلِ اللّٰهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهُ

د ورځے لوئے نه ۔ ته اوایه الله تعالی لره بندګی کووم خالص کوم هغه لره

دِيْنِيْ ⑭ فَاعْبُدُوْا مَا شِئْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ

بندګی خپله تو بندګی کوئے د هغه چاچه غواړئے تاسو سیوا د الله تعالی نه

سلا ۱۲ سلا ۱۳ سلا ۱۴ دا وحي دلیلونه د پاره د دعوے د سورت دی چه توحید فے العبادت دے او دے ته طریقه د تعلیم ویلے کیږی جواب د سوال دے یعنی هرکله چه موحد هجرت کوی نو مشرکین سوال کوی چه هجرت ولے کوے نو دے به اُوائی چه ماموریم په توحید فے العبادت سره او هغه په دے ملک کښ مشکل دے ځکه هجرت کووم بیا سوال اوشو چه اعمال قلبیه پټ کیدے شی هغه کوه لیکن ظاهری اعمال مکوه نو هجرت ته حاجت نه راځی نو دے به جواب اوکړی وَأُمِرْتُ لِأَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ مراد د اسلام نه ظاهری عملونه دی چه دا هم مامور بها دی دا زه نشم پریښودلے . لِأَنْ حرف لام دلالت کوی چه مامور به حذف دے او دا غایة د امر ده یعنی امر بالتوحید والاعمال ۔ لِأَنْ أَكُوْنَ أَوَّلَ الْمُسْلِمِيْنَ دا لفظ د نبی په باره کښ دے ځکه چه هر نبی خپل امت کښ اول مسلمان وی یا مراد د اول نه صرف سبقیت (وړومبے والے) کوونکے دے اسلام ته۔
بیا سوال راغے چه اګرچه تا ته امر شوے دے لیکن کیدے شی چه دا امر د وجوب د پاره نه وی نو مخالفت کول تر ینه جائز دی نو جواب به اوائی په دے جملے سره قُلْ إِنِّيْٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ اه یعنی د دے امر خلاف کول سبب د لوئے عذاب دی ۔ بیا روستو د سوال جواب ته بیان د جدا والی د

قُلْ إِنَّ الْخٰسِرِيْنَ الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا

په اوايه يقيناً پوره تاوان كښ دى هغه كسان چه تاوانى كړل

أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيْهِمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ أَلَا

ځانونه او بال بچ خپل لره په ورځ دَ قيامت خبر شئ

ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ⑮ لَهُمْ

دا تاوان ښكاره دے. دوى لره په

مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ مِّنَ النَّارِ وَمِنْ تَحْتِهِمْ

دَ پورته طرف دَ دوى نه سورى وى دَ اُور نه او لاندے دَ دوى په

ظُلَلٌ ۭ ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ بِهٖ عِبَادَهٗ ۭ

سورى وى. دا ويره وركوى الله تعالىٰ په دے سره بندګانو خپلو ته

لاندے دَ مؤحد او مشرك دے په دے لفظ سره قُلِ اللّٰهَ أَعْبُدُ مُخْلِصًا لَّهٗ دِيْنِيْ او مخكښے امر ذكر شويؤ نو په دے كښ په امر باندے دَ عمل كولو اعلان دے او هركله چه مقصود په عمل كښ تخصيص دَ عبادت دے نو دَ دے وجے نه مفعول ئے مقدم ذكر كړو.

۱۵ تا ۱۶. مخكښ ئے لاردَ مؤحد ذكر كړه نو په ديكښ لاردَ مشرك ذكر كوى چه عبادت كول دَ ماسوى الله دى او مقصد په دے امر كښ زجر دے دَ دے وجے نه وروسته تخويف دَ عذاب ئے ذكر كړے دے. الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا أَنْفُسَهُمْ وَأَهْلِيْهِمْ مراد دَ دے خسران نه شرك في العبادت كول پخپله او اهل او تابعداران خپل شرك ته رابلل دى او هركله چه په دنيا كښ دوى په دے خسران باندے نه پوهيږى دَ دے وجے نه يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ئے ذكر كړو يعنى قيامت كښ به دَ دوى خسران ښكاره شى. او په ايت كښ ئے دَ خسران په باره كښ ډير تاكيدات ذكر كړل اول په إِنَّ الْخٰسِرِيْنَ سره دويم په حرف دَ الا سره دريم هُوَ ضمير الْمُبِيْنُ سره اشاره ده چه دَ مشرك نه زيات خسران والا هيڅوك نيشته. او وروسته دَ خسران تفصيل ذكر كوى په لَهُمْ مِّنْ فَوْقِهِمْ ظُلَلٌ الخ سره يعنى اور دَ جهنم به په دوى باندے دَ هر طرف نه احاطه كوى. ظُلَلٌ نه مراد طبقے دى (پانے په بل مخ)

يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ ⑯ وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا
اے بندګانو زما نو ویره کوئ زما نه - او هغه کسان چه ډډه کوی
الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ
د هر طاغوت د بندګئ کولو د هغه نه او ګرځی الله تعالیٰ ته په اخلاص سره
لَهُمُ الْبُشْرٰى ۚ فَبَشِّرْ عِبَادِ ⑰ الَّذِيْنَ
دوی لره خوشحالئ دی نو زیرے ورکړه بندګانو زما ته هغه کسان دی

پشان د غټو وریځو او پورته ظلل ته غواش او لاندے ته مهاد ویلے شویدے په سورة اعراف ۴۱ کښ -

سوال ،۔ لاندے ته ظلل په څه وجه ویلے دی ظلل خو د پاسه وی ؟
جواب ،۔ دے ته مشاکلة لفظی ویلے کیږی لکه جزاء سیئة سیئة مثلها ۔ بیا سوال راغے چه په دے عذابونو ذکرکولو کښ څه فائده ده عنادیان خو نه منی نو جواب ئے اوکړو په ذٰلِكَ يُخَوِّفُ اللّٰهُ عِبَادَهٗ سره یعنی د دے نه فائده انابت والا کسان اخلی ۔ بیائے د دے عذابونو نه د بچ کیدلو طریقه بیان کړه يٰعِبَادِ فَاتَّقُوْنِ سره ۔
۱۷ ۱۸ ،۔ مخکښ حال د فریق منکرینو ذکرشو سره د تخویفاتو په مقابله د هغوی کښ ذکرکوی حال د مؤحدینو او هغوی ته بشارت ۔ او د هغوی شپږ صفتونه ذکرکوی اول صفت وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ اَنْ يَّعْبُدُوْهَا هغه خلق چه ډډه کوی د بندګئ کولو د غیر الله نه یعنی هیڅ قسم شرک نه کوی ۔ الطَّاغُوْتَ مبالغه ده په طغیان کښ په حقیقت کښ هغه چاته ویلے کیږی چه ډیر زیات سرکش او ګمراه وی شیطان انسی او جنّی پکښ داخل دی او مجازاً هر معبود من دون الله باندے اطلاق کیږی لکه بتان ، قبرونه د اولیاؤ وغیره څکه عبادت د دوی سبب د ګمراهئ دے دا اطلاق د سبب دے په مسبّب باندے دا خطیب شربینی په سراج المنیر کښے لیکلی دی ۔ دویم صفت وَاَنَابُوْٓا اِلَى اللّٰهِ مراد د دے نه د شرک او کفر نه تو به کول او توحید باندے یوخوالے دے ۔ لَهُمُ الْبُشْرٰى په زړه کښ به خوشحاله وی په دنیا کښ او په وخت د څنکدن کښ به ملائک بشارت ورکوی او دارنګ په وخت د بعث بعد الموت او میدان حشر او موقف د حساب کښ دے

يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ ؕ

په خوله کېږدي و تابعداري کوي دَ ډېر ښائسته دَ هغه ته وینا ته

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدٰىهُمُ اللّٰهُ وَاُولٰٓئِكَ

دغه کسان هغه دي چه هدایت کړے دے دوی ته الله تعالٰی او دغه کسان

هُمْ اُولُوا الْاَلْبَابِ ⑱ اَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ

دوی خالص عقل والا دي - ایا هغه څوک چه پوره شوی وی په هغه باندې

تولو ته عام دے ځکه ئې مطلق ذکر کړے دے. فَبَشِّرْ عِبَادِ په دے کښې اشاره ده چه دا ځکښې او روستو اجزاء دَ عبدایت دی او عبدایت سبب دَ بشارت دے.
دریم صفت الَّذِيْنَ يَسْتَمِعُوْنَ الْقَوْلَ ځکښې صفتونه قلبیه وو او دا صفتونه دَ جوارحو دی دَ الْقَوْلَ نه مراد قران او حدیث دی دا په توجه سره اوری ځکه چه سماع قصد دَ اوریدلو ته ویلے کیږی یا مراد دَ قول نه مطلق خبرے دی حق او باطل بے دلیله او په دلیل سره، ښه او بدے. نو دَ دے استماع کوی دَ پاره دَ دے چه حق او باطل پکښې معلوم کړی. څلورم صفت فَيَتَّبِعُوْنَ اَحْسَنَهٗ یعنی دَ علم نه روستو عمل کول دی هر کله چه مراد دَ قول نه قران او حدیث وی نو مراد دَ احسن نه مقابل دَ حسن او دَ جائز دے او هغه په عبادا تو معاملاتو تو لو کښې شته. مثلاً په موقع کښې احسن دا دے چه پوره مشتمل وی په شرطونو او ارکانو او موافق وی دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره او په اختلافی مواضعو کښې په راجح طریقه باندے عمل وی. او که مشتمل وی په مکروهاتو باندے نو جائز به شی لیکن احسن نه دے دارنګ په معاملاتو کښې په چا باندے دین (قرض) وی نو چه معاف ئې کړی یا ورله مهلت ورکړی او دارنګ په مذاهبو کښې چه کوم مذهب دَ دلیل په لحاظ سره راجح وی په هغې باندے عمل اوکړی او دارنګ یو طرف ته اصح حدیث اتفاقی وی او بل طرف ته صحیح حدیث اختلافی وی لکه احادیث دَ رفع الیدین په موقع کښې ما سوا دَ اول تکبیر نه دا صحیح اتفاقی دی او احادیث دَ ترک دَ رفع الیدین اختلافی صحیح دی او دارنګ واجب مقدم کوی په مستحب باندے او مستحب مقدم کوی په مباح باندے، او هر کله چه مراد دَ الْقَوْلَ نه مطلق وی نو دَ احسن نه مراد مقابل دَ سیئ (بدے) دے یعنی مسائل او احکام او خبرے هر قسم اوری لیکن عمل په هغې باندے کوی چه په دلیل شرعی سره ثابت وی. نو په دے (پاتے په بل مخ)

كَلِمَةُ الْعَذَابِ ط أَفَأَنْتَ تُنْقِذُ مَنْ

فیصله دَ عذاب تو ایا ته به بچ کړے هغه چالره چه

فِي النَّارِ ⑲ لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ

په اور کښ همیشه دی. لیکن هغه کسان چه ویره کوی دَ رب خپل نه

لَهُمْ غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ مَّبْنِيَّةٌ لا

دوی لره بالاخانے دی چه پورته دَ هغے نه نورے بالاخانے دی پخے ،

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ط وَعْدَ اللَّهِ ط

بهیږی لاندے دَ هغے نه نهرونه وعده کړے ده الله تعالی

لَا يُخْلِفُ اللَّهُ الْمِيعَادَ ⑳ أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ

خلاف نه کوی الله تعالی دَ وعدے خپلے نه - ایا ته گورے ته چه یقینًا الله تعالی

کښ اشاره ده چه سرهٔ دَ علم نه په چا پسے بے دلیله تقلید نه کوی.
پنځم صفت چه دوی خاوندان دَ هدایت دی. شپږم صفت د دوی صاف عقل والا دی اشاره ده چه جاهلان به دوی ته گمراهان او بے عقله وائی لیکن دَ الله تعالی په نیز دوی هدایت والا او هوښیار دی.
سـ۱۹ :- په دے دواړه آیاتونو کښ مقابله دَ فریقینو په جزا سزا کښ بیانوی اول تخویف دے او دویم بشارت دے. أَفَمَنْ حَقَّ عَلَيْهِ مؤنث لفظ ئے نه دے راوړے ځکه چه کلمة په معنیٰ دَ قول دے او په صیغه دَ مذکر کښ تشدید دے او په صیغه دَ مؤنث کښ نرم والی ته اشاره ده او دلته سخت والے دَ فیصلے مراد دے - كَلِمَةُ الْعَذَابِ مراد دَ دے نه فیصله دَ تقدیر ده په اشقیاؤ باندے یا مراد ترینه هغه قول دے چه په آخر دَ سورة صٓ سـ۸۵ کښ ذکر شوے دے.
أَفَمَنْ دَ پاره جزاء پټه ده (كمن ليس كذلك) یا أَفَأَنْتَ تُنْقِذُ اه جزاء ده خو اسم ظاهری ئے په ځائے دَ ضمیر باندے ذکر کړے او همزه دَ استفهام ئے دَ تاکید دَ پاره دوه کرته ذکر کړے دے. لَٰكِنِ الَّذِينَ اتَّقَوْا په دے کښ بشارت ذکر کوی دویم فریق لره هرکله چه په سـ۱۶ کښ دَ منکرینو دَ پاره عذاب دَ بره طرف او لاندے طرف ته ذکر کړے وو نو په دے آیت کښ دَ جنتیانو دَ پاره لاندے باندے غرف ذکر کوی. لٰكِنِ تفسیر قرطبی کښ ویلے دی چه دا لٰكِنِ دلته دَ استدراک

أَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَسَلَكَهٗ يَنَابِيعَ

راولوی دَ آسمان دَ طرف نه اوبه نو چلوی ئې لوه چینې

فِي الْأَرْضِ ثُمَّ يُخْرِجُ بِهٖ زَرْعًا مُّخْتَلِفًا

په زمکه کښې بیا راوباسی په ئې سره فصل چه مختلف دی

أَلْوَانُهٗ ثُمَّ يَهِيجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ

رنګونه دَ ئې بیا اوچ شی نو وینې ته هغه زیړ بیا

يَجْعَلُهٗ حُطَامًا ؕ إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَذِكْرٰى

اوګرځوی ئې لره مات رامات یقیناً په دے کښې خامخا نصیحت دے

لِأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿٢١﴾ أَفَمَنْ شَرَحَ اللّٰهُ

خالص عقل والو لره - آیا نو هغه څوک چه پرانستې وی الله تعالیٰ

دَپاره نه دے ځکه چه محکښ نفی نیشته بلکه دَپاره دَ انتقال دَیو قصّے نه بلے قصّے ته دے غُرَفٌ مِّنْ فَوْقِهَا غُرَفٌ په دے کښې ډیر تاکیدات دی چه غرف جمع ده دَ هغې شمار نه دے معلوم بیا دویم هم جمع ده دَ هغې حد هم نه دے معلوم۔ مَبْنِيَّةٌ دا لفظ دَدے فائدے دَپاره دے چه دَ دُنیا دَ بنګلو چتونه چه څومره اوچت ځی نو کمزورے وی او دَجنّت چتونه ټول مضبوط او محکم دی او په حدیث مرفوع کښې وارد دی چه بخاری او مسلم نقل کړے دے چه جنتیان به اهلِ غرف ته دَخپل ځان نه اوچت داسے وینی لکه چه ستورے چمکدار دَ نورو ستورو نه په مشرق یا مغرب کښې پاتے شوے وی او تاسو ئې وینئ دا دَ وجے دَ فرق دَ مرتبو دَ دوی دَ یو بل نه، دوی اوویل یارسول الله دغه به منازل دَ انبیاء علیهم السّلام وی هغه او فرمائیل نه بلکه قسم په هغه ذات چه زما نفس دَ هغه په لاس کښې دے دا هغه سری دی چه ایمان ئې په الله تعالیٰ باندے راوړے دے او تصدیق دَ رسولانو ئې کړے دے۔

سـ۲۱ :۔ دَ دے آیت نه تر سـ۲۲ پورے دویم باب دے په دے کښې دریم دلیل عقلی دے بیا تقابل دَ فریقینو ذکر کوی سره دَ ترغیب الی القرآن او تخویف اخروی نه او بیا تخویف دنیوی او ترغیب الی القرآن او مثال ذکر کوی دَپاره دَ حال دَ فریقینو بیا تقابل دَ فریقینو په تخویف او بشارت سره راپاتے په یل ځ)

صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ فَهُوَ عَلٰی نُوْرٍ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ

سینه د هغه د پاره د اسلام نو هغه په رڼا باندے دی د طرف د رب د هغه

فَوَيْلٌ لِّلْقٰسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ؕ

نو تباهی ده هغه چا لره چه سخت دی زړونه د هغوی (ږدګوریدلو) د ذکر د الله تعالیٰ نه

اُولٰٓئِكَ فِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ﴿۲۲﴾ اَللّٰهُ نَزَّلَ

دغه کسان په ګمراهئ ښکاره کښ دی۔ الله تعالیٰ نازل کړے دی

او تسلّی رسول ته او ذکر د حال د فریقینو یا څلورم دلیل عقلی اعتراقی سره د رد د شرک فے التصرف ته یا اعلان د براءت او ترغیب الی القرآن سره د حال د فریقینو ته۔ په دے (۲۱) کښ روستو د بیان د خالقیت د الله تعالیٰ نه بیان د ربوبیت د هغهٔ دے او مواد د تربیت دوه دی اوبه او بوټی دا دواړه د الله تعالیٰ په تصرف او اختیار کښ دی او په دے کښ فناء د دُنیا ته هم اشاره کوی د پاره د تذکیر د اخرت چه مخکښ ایت کښ د هغے ذکر اوشو۔

فَسَلَكَهٗ يَنَابِيْعَ فِی الْاَرْضِ یعنی هغه اوبه د باران چه په زمکه کښ داخلے کړی نو په زمکه کښ چینے شی یشان د رګونو په جسم کښ نو د زمکے په رګونو کښ تقسیم شی۔ لَذِكْرٰی لِاُولِی الْاَلْبَابِ په دے کښ تذکر او عبرت دے د پاره د توحید او د پاره د اثبات د بعث بعد الموت او د پاره د فناء د دنیا او ور سره تذکیر دے د حال د قرآن کریم په طریقه د مثال سره چه دا رنګ قرآن ئے د اسمان نه نازل کړے دے او په زړونو د خلقو کښ داخل کړے دے چه په هغے سره مختلف اثار پیدا شی په چا کښ ښهٔ اثر اوشی او په چا کښ ناکاره اثر پیدا شی۔

س۲۲:- په دے ایت کښ تقابل ذکر کوی د دواړو ډلو او مخکښ ایت کښ چه کوم دلیل ذکر شو نو د هغے نه د انتفاع حاصلولو د پاره علت ذکر کوی چه شرح د صدر ده۔ او مراد په شرح د صدر سره اثابت د پاره د قبلولو د اسلام دے یعنی شبهات او عناد د هغه د زړه نه الله تعالیٰ لرے کړی نو اسلام قبول کړی او روستو د اسلام قبلولو نه په قرآن باندے پوهه شی د نُور نه مراد قرآن دے نو په دے نور سره هغه په اسلام باندے مضبوط او پوخ شی۔ او د دے جزا پټه ده یعنی (كَمَنْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلٰی قَلْبِهٖ وَاَقْسَاهُ) "یشان د هغه چا کیدلے شی چه د هغه په زړه باندے الله تعالیٰ مهر وهلے وی او سخت کړے وی" او استفهام

أَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ كِتٰبًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ ۖ

دیرے خائسته خبرے چه کتاب دے یو شان بیا بیا بیانیږی ،

تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُوۡدُ الَّذِيۡنَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ۚ

ریږدی ځکیږی (غوټے زیږے زیږه کیږی) دَ هغه نه په څرمنو دَ هغه کسانو چه ویره کوی دَ رب خپل نه

ثُمَّ تَلِيۡنُ جُلُوۡدُهُمۡ وَقُلُوۡبُهُمۡ اِلٰى ذِكۡرِ اللّٰهِ ؕ

بیا نرمیږی څرمنے دَ هغوی او زړونه دَ هغوی ذکر دَ الله تعالیٰ ته

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهۡدِىۡ بِهٖ مَنۡ يَّشَآءُ ؕ

دا هدایت دَ الله تعالیٰ دے هدایت کوی په دے سره چه غواړی الله تعالیٰ

وَمَنۡ يُّضۡلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ هَادٍ ۝۲۳

او هغه څوک چه بے لارے کړی وی الله تعالیٰ نو نیشته هغه لره هیڅوک په لارے روانوونکے ۔

انکاری دے یعنی دوی یو شان نشی کیدے ۔ فَوَيۡلٌ لِّلۡقٰسِيَةِ قُلُوۡبُهُمۡ دا علت دَ عدم مساوات دَ دے دوارو دلو دے او بعض مفسرینو دلته روایت نقل کړیدے چه علامات دَ شرح صدر درے دی اِنابت جنت ته ، نفرت دَ دنیا نه ، تیاری کول دَ پاره دَ مرګ مخکښ دَ راتللو دَ هغے نه ۔ نو دَ قسوة قلب علامات دَ دے مقابل دی ۔
عن ذکر الله عن اجلیه دے یعنی دَ الله تعالیٰ دَ ذکر دَ وجے نه دَ دوی په زړونو کښ قسوة پیدا شی لکه ولا یزید الظالمین اِلا خسارا یا مراد دَ دے عن قبول ذکر الله دے ۔
۲۳ :- دا صداقت دَ قرآن دے او ترغیب دے هغے ته دَ پاره دَ زائل کولو دَ قسوة دَ زړه کوم چه مخکښ ایت کښ ذکر شویدے او په دے ایت کښ اووه صفتونه دَ قرآن کریم ذکر کړے دی اول صفت اَحۡسَنَ الۡحَدِيۡثِ په قرآن کریم باندے دَ حدیث اطلاق نورو ځایونو کښ شته ځکه چه حدیث ویلے کیږی هر هغه کلام ته چه بیانیږی او دے لفظاً هم احسن دے ځکه چه ډیر فصیح او بلیغ دے ، او لذت ورکوونکے دے قاری ته او اوریدونکی ته اګرچه شعر نه دے او معنیً هم احسن دے چه تناقض او اختلاف نه پاک دے په اخبارو تیر شوؤ او راتلونکو کښ یے هیڅ دروغ نیشته او عجائبات یے نه ختم کیږی ۔ دویم صفت كِتٰبًا یعنی جمع کوونکے دَ هر خیر دے ۔ دریم صفت مُّتَشَابِهًا یعنی په رپلتیا یو بل مخ)

أَفَمَن يَتَّقِي بِوَجْهِهِۦ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ يَوْمَ

ایا هغه څوک چه خان بچ کوی په مخ خپل سره د ناکاره عذاب نه په ورځ

ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَقِيلَ لِلظَّٰلِمِينَ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ

د قیامت او اوبه ویلې شي ظالمانو ته چه اوڅکئ سزا د هغه عملونو

حُسن او فصاحت بلاغت کښې توک ایاتونه او سورتونه یو شان دی اګرچه په دیرویش کالونو کښې نازل شوی دے او که د مخلوق کلام وے نو په دومره زمانه کښې په جوړولو باندے به یې ډیر تفاوت او اختلاف راغلے وے او د دے دلیل په سورة نساء ۸۲ کښې تیر شوی دے. څلورم صفت مَثَانِيَ یعنی د دے قصے او احکام او وعد او وعید ونه بیا بیا ذکر شوی دی او د دا رنګ تلاوت یې بار بار کیږی او زړه ترینه نه مړیږی. مثانی جمع د مثنیٰ ده او کتاب مفرد دے لیکن مراد د کتاب نه ایاتونه او تفصیلات د کتاب دی نو په جمع سره یې صفت صحیح دے. پنځم صفت تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ اقشعرار دیته وائی چه د ویرے د وجے نه د انسان په بدن باندے ویښته نیغ او درېږی او دا صفت د څرمن دے نو جلود یې ذکر کړه او دا حالت د زړه د خشیت نه پیدا کیږی د دے وجے نه یخشون یې ورسره ذکر کړو. شپږم صفت ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ یعنی دغه ویره د زړه او د څرمن سبب او ګرځی د اطمینان او د محبت نو د هغې وجے نه نرم والے راشی په څرمن باندے ویښته په ځائے ځائے کیني او دا رنګ اندامونه د دغه انسان د الله تعالیٰ د ذکر اطاعت د پاره استعمالیږی او په زړه کښې ایمان محکم او زیات شی او دا ترتیب په سورة انفال ۲ کښې ذکر شوی دے او دا د قرآن کریم اعجاز دے چه ویره سبب د اطمینان او ګرځی په خلاف د نورو تخویفاتو چه هغه د ویرے نه نفرت پیدا کوی. او هر کله چه اقشعرار او نرم والے په څرمن باندے ظاهریږی نو د دے وجے نه جلود یې مخکښې ذکر کړو. تفسیر قرطبی او بحر المحیط و ابن کثیر او سراج المنیر کښې په دے ځائے کښې سخت تردید یې د هغه متصوفو ذکر کړے دے چه په وخت د ذکر کولو کښې په هغوی باندے بے هوشی راشی یا ګډا کوی یا نو یو نه وهی او دینه جذبه وائی او دا کمال ګڼړی. نو که دا کمال وے او دا نه صفت د نو الله تعالیٰ به د صحابو او د نورو مؤمنانو په صفت کښې په دے ایت کښې ذکر کړے وے. د اسماء رضی الله عنها او د سعید بن عبد الرحمان نه نقل ده چه دا جذبه د شیطان د وجے نه ده او د ابن سیرین رحمة الله نه نقل دے

تَكْسِبُوْنَ ۝٢٤ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

چه ستاسو کول - تکذیب کړے وو هغه کسانو چه د دوی نه مخکښې وو

فَاَتٰىهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُوْنَ ۝٢٥

نو راغے دوی ته عذاب د داسے ځائے نه چه دوی نه پوهیدل -

فَاَذَاقَهُمُ اللّٰهُ الْخِزْيَ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

نو وڅکوله دوی ته الله تعالیٰ شرمندګی په ژوند د دنیوی کښې

وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ اَكْبَرُ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝٢٦

او خامخا عذاب د آخرت ډیر لوے دے که چرے دوی پوهیدلے -

چه دَدوی پوتن دِ په چت دَکوټے (په بلخ) باندے یا په دیوال باندے کیږی یا دَ کوهی په غاړه باندے کیږی او په هغه باندے دے بتول قران اولوستلے شی که دے بے هوشه شو او را اوغورځیدلو نو دے به رښتیے وی په چندیه کښ - اووم صفت ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ دا اشاره قران ته ده یا اقشعرار اولین ته چه صفت دَ قران والود-

سئلہ ۲۴ :- دا تخویف اخروی دے منکرینو ته روستو دَ بیان دَحال دَ مؤمنانو ته او په دے ایت کښ تقابل دے لیکن دویم جانب ئے حذف کړے دے (کَمَنْ اٰمِنَ مِنَ الْعَذَابِ بِسَبَبِ الْقُرْاٰنِ) او داسے سوره حم سجده سئلہ کښ دی - بِوَجْهِهٖ ، یعنی په جهنم کښ په پړمخ اوغورځولے شی او لاس به ئے تړلے شوے وی نو دے به په مخ سره ځان دَعذاب نه بچ کوی لیکن نه به شی بچ کیدلے یعنی بله طریقه دَ دفع عذاب ورسره نیشته او دا طریقه فائده نه ورکوی - او احتمال شته چه مراد دَ وجهه نه وجاهت او شرافت دنیویه شی یعنی دے دَ قیامت دَعذاب نه ځان په دنیوی عزت او شرافت سره بچ کول غواړی او دَ قران سره دشمنی کوی لیکن په دے وجاهت سره نه شی بچ کیدلے -

سئلہ ۲۵، ۲۶ :- دا تخویف دنیوی دے په ذکر کولو دَحال دَ منکرینو تیر شوؤ -

مِنْ قَبْلِهِمْ لفظ دَ مِنْ کښ اشاره ده نزدے والی دَ زمانے ته لکه قوم سبا او قوم تُبّع وغیره. فَاَذَاقَهُمُ مبرد ویلے دی چه هر اندام ته څه اثر رسیږی نو هغے ته ذوق ویلے کیږی که هغه درد وی او که تریخوالے او که خوږوالے وی-

وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ

او یقینًا بیان کړی دی موږ خلقو ته په دے قرآن کښ

مِن كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿۲۷﴾

دَ هر قسم وعظونو نه دَ دے دَ پاره چه دوی نصیحت قبول کړی.

قُرْآنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِي عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ

قرآن عربی دے نه دے کږلیچ والا دَ دے دَ پاره چه دوی

يَتَّقُونَ ﴿۲۸﴾ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا رَّجُلًا فِيهِ

ویریږی. بیان کړیدے الله تعالیٰ یو مثال چه یو سړے دی په هغه کښ

شُرَكَاءُ مُتَشَاكِسُونَ وَرَجُلًا سَلَمًا لِّرَجُلٍ

ډیر برخے والا دی جګړه مار او یو بل سړے دی پوره دَ یو سړی دَ پاره

هَلْ يَسْتَوِيَانِ مَثَلًا ۚ الْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ

آیا دوی برابر کیږی په حالت کښ. ستائینه دَ خدائیتوب دَ یو الله تعالیٰ ده بلکه

۲۷ تا ۲۸: په دے آیاتونوکښ ترغیب دے قرآن ته دَ پاره دَ بچ کیدو دَ عذاب دَ دُنیا او آخرت نه کوم چه مخکښ آیاتونوکښ ذکر شو.
مِنْ كُلِّ مَثَلٍ مراد دَ دے نه مثالونه دی او دَ کل نه مراد هغه دی چه هغے ته حاجت وی. یا مراد دَ مثل نه قسمونه دَ بیان او دَ وعظونو دی یا مراد دَ مثل نه نمونے دَ عذاب دَ سابقینو دی. قُرْآنًا حال دے دَ من القرآن نه په معنی لغوی سره یعنی لوستلے کیدے شی ترقیامته پورے. عَرَبِيًّا ژبه عربی فصیحه او بلیغه ژبه ده دَ دے پشان بل لغت واضح نیشته یا مراد دَ دے نه معنیٰ لغوی ده یعنی واضح مقصد والا دے. غَيْرَ ذِي عِوَجٍ مراد دَ دے نه شبهات اوشکونه او اعتراضونه دی ځکه چه عوج دَ عین په زیر سره مستعملیږی په معانی کښ او په زور دَ عین سره په اجسامو کښ. هر کله چه ضرب الامثال دَ پاره دَ یادداشت او نصیحت وی نو اول آیت کښ یے يَتَذَكَّرُونَ ذکر کړو او غیر ذی عوج کښ اشاره ده چه شبهاتو او شکونو نه بچ کوونکے دے دَ دے وجے نه يَتَّقُونَ یے ذکر کړو.

أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٩﴾ إِنَّكَ مَيِّتٌ وَ

ډیر دَ دوی نه پوهیږی - یقینًا ته مړکیدونکے یئے او

۲۹:- تیر شوی ایت کښ مِن كُلِّ مَثَلٍ ذکر وؤ نو په دے ایت کښ دَ هغے یو خاص مثال ذکر کوی دَپاره دَ فرق په مینځ دَ حال دَ مشرک او مؤحد کښ۔
مُتَشَاكِسُونَ جګړمار او ضدایان دی په انصاف هم نه رضا کیږی او یو بل سره اتفاق هم نه کوی۔ تفصیل دَ مثال دا دے چه دَ یو مریئ ډیر مولاګان وی لیکن بداخویه او ضدایان وی یو تن چه دے مریئ ته دَ یو کار حکم اوکړی نو بل دَ هغه په ضد کښ دَ بل کار حکم اوکړی او دواړه اتفاق نه کوی او مخالف هم نه کوی او که دَ دے مریئ ځه حاجت پیښ شی یا پرے ځه مصیبت راشی نو دَ مولاګانو نه یو کس هم دَ دهٔ سره امداد نه کوی دَ وجے دَ بد اخلاقئ دَ هغوی نه نو دا مریئے په ضرور ډیر تنګ ژوند کښ وی او پریشان به وی او بل مریئے دے چه دَ هغه یو مولا دے او هغه مولا کښ دَ رجولیت یعنی دَ سړی توب اخلاق هم شته شریف دے محاق کوونکے دے سخی او کریم دے په خپل مریئ ظلم نه کوی په حاجت او مصیبت کښ ورسره امداد کوی نو ضروری خبره ده چه دا مریئے به په خپل ژوند کښ ډیر خوشحاله وی نو دا رنګ مشرک چه ډیر الِهه ئے نیولے دی یو هم حق دار دَ بندګئ نه کړی بل هم ګنړی یو الله دَ یو مصیبت لرے کولو ذمه وار ګنړی او بل دَ بل مصیبت دَپاره بیا دا الِهه دَ دهٔ مشرکان پیر ان او ملایان دی چه عنادیان او حرصناک دی نو که دا مشرک دَ یو عبادت کوی نو بل تر ینه خفه کیږی یو ته نذرانه شکرانه اوری نو بل ورته غصه دی او په یو وخت کښ ئے ډیر حاجتونه وی نو حیران وی چه دے یو حاجت له یو دربار ته زم نو هغه بل دربار دَ بل حاجت دَپاره زمانه پاتے کیږی نو دا مشرک ډیر په تنګ ژوند کښ دے او مؤحد سړے خو دَ یو الله عبادت او طاعت کوی په یو وخت تر ینه هر حاجت غوختلے شی نو دَ دهٔ ژوند بنهٔ په ارام دے نو معلومه شوه چه دوی برابر نه دی۔ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ دا دلیل دے چه صفتونه دَ الوهیت ټول دَ یو الله تعالیٰ دَپاره دی او دَ دوی په الِهو کښ دا صفتونه نیشته نو دا معبودان دَ الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے نو دَ دوی عابدان هم برابر نه شی کیدے۔
فائده :- دا مثال دَ بُتانو عبادتونه کوؤنکو سره نه لګی دَ دے وجے خطیب شربینی لیکلی دی چه دا مثال په هغه چا دے چه دوی دَ علماؤ او پیرانو عبادت کوی په دے عقیده چه هغوی په زمونږ دَپاره شفاعت (شرکیه) کوی او هر یو عقیده لری چه زما عالم او پیر په حق باندے دے او دا بل په باطل باندے دے

إِنَّهُمْ مَّيِّتُونَ ﴿۳۰﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ

یقیناً دوی به هم مړه کیږی - بیا به یقیناً تاسو په ورځ

الْقِيَامَةِ عِندَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ ﴿۳۱﴾

دَ قیامت دَ خپل رب په مخکښ تخړونه کوئ

تـ۳۰ تا۳۱ :- هر کله چه سخت رد او کړے شو په مشرکانو بانددے نو هغوی دَ غصے دَ وجے نه خیرے کولے چه دا نبی به مړشی چه مونږ ترینه خلاص شو نو په دے آیت کښ جواب دے چه مرګ خو په ټولو بانددے راځی نو دَ بل چا په مرګ خوشحالی کول هیڅ فائده نه لری او دا رنګ په مرګ سره دَ جګړونه خلاصیږے بلکه روستو دَ مرګ نه په دوباره ژوند دَ قیامت کښ به جګړے وی او فیصلے به وی -

تَخْتَصِمُونَ دا اختصام عام دے که په مینځ دَ مؤمنانو کښ وی او که دَ کتابیانو کافرانو سره او که دَ مشرکانو سره -

فائده :- میّت په شد دَ یَ سره په هغه چا بانددے اطلاق کیږی چه مړ نه وی لیکن مړ کیږی به او په سکون دَ یا سره هغه چاته ویلے کیږی چه مړ وی لیکن دا فرق اکثری دے کله دَ یو بل په معنیٰ هم راځی لکه انک لا تسمع الموتی او یحیی الموتی کښ موتی جمع دَ میّت (شد) دے لیکن مراد ترینه مړی دی - او دَ دے آیت نه معلومه شوه چه په نبی صلی الله علیه وسلم بانددے هم مرګ راغلے دے دَ دے وجے دفن کړے شو بیا دے - او قرطبی لیکلی دی چه دا خبره الله تعالیٰ دَ دے وجے نه ذکر کړه چه څوک دَ نبی صلی الله علیه وسلم په مرګ کښ خلاف او نکړی او بل دا چه معلومه شی چه پیغمبر په دے صفت کښ دَ نورو خلقو سره مساوی (برابر) دے -

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ وَكَذَّبَ

نو څوک لوی ظالم دے د هغه چا نه چه دروغ وائي په الله تعالیٰ باندے یا دروغژن گڼړي

بِالصِّدْقِ اِذْ جَآءَهٗ ؕ اَلَيْسَ فِىْ جَهَنَّمَ

رشتیا لره کله چه راغے ده ته ایا نیشته په جهنم کښ

مَثْوًى لِّلْكٰفِرِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَالَّذِىْ جَآءَ بِالصِّدْقِ

ځائے د اوسیدلو کافرانو لره - او هغه څوک چه راوړے دی رشتیا

وَصَدَّقَ بِهٖٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ ﴿۳۳﴾

او تصدیق ئے د هغے اوکړو دغه کسان دوی متقیان دی -

لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ

دوی د پاره هغه نعمتونه دی چه دوی غواړی په نیز د رب د دوی دا

جَزٰٓؤُا الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۳۴﴾ لِيُكَفِّرَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

بدله ده د خائسته عمل کوونکو - دے د پاره چه معاف کړی الله تعالیٰ د دوی نه

اَسْوَاَ الَّذِىْ عَمِلُوْا وَيَجْزِيَهُمْ اَجْرَهُمْ

ناکاره هغه عمل نه چه دوی کړیدی او بدله ورکړی دوی لره ثواب د دوی

۳۲ :- په دے کښ فیصله د مختصمون (اختصام) ذکر کړی نو اول تخویف اخروی ذکر کوی منکرینو ته - كَذَبَ عَلَى اللّٰهِ په نسبت کولو د ولد او د شریک کښ او دا رنګ په تاویل د صفاتو د هغه کښ چه هغه د ځان بوصفت وئیلے دی لکه ید (رلاس) او څوک اُوائي چه د دے نه قدرت مراد دے لکه جهمیه موؤله وائي -

۳۳ ۳۵ :- په دے ایاتونو کښ بشارت دے مؤمنانو ته - جَآءَ بِالصِّدْقِ د صدق نه مراد مسئله د توحید ده او کتاب د الله تعالیٰ دے یعنی هر هغه څوک چه دعوت کوی قرآن او توحید ته. وَصَدَّقَ بِهٖٓ د دے نه مراد ټول مؤمنان دی چه دعوت د توحید او د قرآن اومنی - او د دوی پنځه حالتونه ذکر کوی اول صفت د تقوی - دویم وسعت د نعمتونو د دوی د خواهش مطابق په جنت کښ. دریم صفت د محسنین - څلورم تکفیر د سیئاتو یعنی گناهونه رپاتے په بل مخ)

بِاَحْسَنِ الَّذِیْ كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ﴿۳۵﴾

په دیر خائسته هغه عملونو سره چه دوی کول .

اَلَیْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ ؕ وَیُخَوِّفُوْنَكَ

آیا نه دے الله تعالیٰ پوره (بچ کوونکے) خپل بنده لره او ویره وی دوی تا

بِالَّذِیْنَ مِنْ دُوْنِهٖ ؕ وَمَنْ یُّضْلِلِ اللّٰهُ

په هغه کسانو چه د الله تعالیٰ نه سوا دی او هغه څوک چه بے لارے کړی هغه لره الله تعالیٰ

فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ﴿۳۶﴾ وَمَنْ یَّهْدِ اللّٰهُ

نو نیشته هغه لره هیڅوک هدایت ورکوونکے . او هغه څوک چه هدایت ورکړی هغه له الله تعالیٰ

فَمَا لَهٗ مِنْ مُّضِلٍّ ؕ اَلَیْسَ اللّٰهُ بِعَزِیْزٍ

نو نیشته هغه لره هیڅوک بے لارے کوونکے آیا نه دے الله تعالیٰ زور آور

ذِی انْتِقَامٍ ﴿۳۷﴾ وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ

بدله اخستونکے . او که چرے تپوس اوکړے ته د دوی نه چا

په ورته معاف کړیشی . اسوء چه ډیر ناکاره معاف کوی نو (سوء) لگ ناکاره خو ضرور معاف کیږی . بخُم اجر او ثواب چه په احسن اعمالو باندے ملاویږی هغه عملونه مراد دی چه د کتاب او سنت سره موافق وی .

۳۶ ـ ۳۷ : مخکښ ئے د آخرت اختصام ذکر کړو نو په دے آیت کښ د دُنیا اختصام ذکر کوی یعنی هر مشرک ویره ورکوی موحد ته د خپل معبودانِ باطله نه . نبی صلی الله علیه وسلم ته ئے ویل چه ته زمونږ الهو ته بد مه وایه (چه دوی هیڅ شی کولے) دوی به تاته مصیبت ، مرض ، جنون دراورسوی . او خالد بن ولید رضی الله عنه ئے د عزیٰ ته ویره ورکه چه مفسرینو ذکر کړیدی او سهٔ مشرکان وائي موحدینو ته چه د توحید مسئلے مهٔ کوئے او نذرونه د غیرالله مه منع کوئے جنهے او غلاقونه تربیته مه لرے کوئے گنی نو تکره په درکړی . نو الله تعالیٰ موحدینو بندگانو ته تسلی ورکوی او مشرکانو باندے رد کوی اَلَیْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ د عبدهٔ نه هر موحد مراد کیدے شی او بیا ئے ذکر د فریقینو کړے دے په طریقه د تقابل سره . بِعَزِیْزٍ په دے کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ د خپل بنده د بچ کولو د پاره د دے وجے نه پوره دے چه زور آور او غالب دے او نور معبودان بے طاقته دی

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ؕ

پیدا کړی دی اسمانو نه او زمکه خامخا دوی وائی الله تعالی

قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

ته اُوایه ایا پوهه یئ تاسو په (حال) دَهغه چاچه تاسو ئې بلنه کوئ بیوا دَ الله تعالی نه

اِنْ اَرَادَنِىَ اللّٰهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كٰشِفٰتُ

که چرے اُوغواړی الله تعالی زما ځه تکلیف ایا دوی کیدیشی لرے کوونکی

ضُرِّهٖٓ اَوْ اَرَادَنِىْ بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ

دَ تکلیف دَهغه یا اوغواړی په مایانس ے رحمت ایا دوی

مُمْسِكٰتُ رَحْمَتِهٖ ؕ قُلْ حَسْبِىَ اللّٰهُ ؕ

بندوونکی شی رحمت دَهغه ته اُوایه پوره دے ماله الله تعالی

عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ ﴿۳۸﴾ قُلْ

خاص په هغه باندے توکل کوی توکل کوونکی ته اوایه

۳۸: داڅلورم دلیل عقلی اعترافی دے دَپاره دَ نفی دَخالقیت او تصرف
دَغیر الله تعالی په اقرار دَ مشرکانو سره او دَ مخکښ ایت سره ئې ربط
دادے چه تاسو په دے معبودانو باطلو سره مؤحدینو لره څه رنګه ویروئې
تاسو خو پخپله هم اقرار کوئې چه خالق الله تعالی دے او دا معبودان دَ نفع
او ضرر مالکان نه دی دَ الله تعالی په مقابله کښ، نو په دے ایت کښ
دوه عقیدے په اقرار دَ مشرکانو سره ذکر کوی اول دا چه خالق الله تعالی
دے او دا په سورة عنکبوت ۶۱ لقمان ۲۵ زخرف ۹ ۸۷ کښ هم ذکر
شویدے او دویم اقرار په دے قول سره ذکر کوی قُلْ اَفَرَءَيْتُمْ مَّا
تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ الاٰیة یعنی ستاسو معبودانو سره اختیار او قدرت دَ
ضرر او نفع او خیر او شر نیشته دے او دَ دے استفهام جواب هم ابن جریر
وغیره ذکر کړے په لَا مقدار سره یا په سکوت سره یعنی دوی، یا وائي چه
مونږ معبودان مالک دَ نفع او ضرر نه دی په مقابله دَ الله تعالی کښ یا چُپ
پاتې شی او دا چُپ پاتے کیدل هم دلیل دَ اقرار دے. قُلْ حَسْبِىَ اللّٰهُ یعنی که
مشرک دعوی اوکړی چه دا معبودان پخپله اختیار منلا نه دی رباتے په بل ځ)

يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّىْ عَامِلٌ
اے قومه زما عمل کوئ په ځپله طریقه باندے یقینًا زه هم عمل کوونکیم

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٣٩﴾ مَنْ يَّاْتِيْهِ عَذَابٌ
نو زر دے چه تاسو به پوهه شئ چه څوک دے هغه چه راځی هغه ته عذاب

يُّخْزِيْهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٤٠﴾
چه رسوا به ئے کړی او راکوز به شی په هغه باندے عذاب همیشه ۔

اِنَّآ اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ لِلنَّاسِ بِالْحَقِّ
یقینًا نازل کړے دے مونږ په تا باندے کتاب دَ خلقو دَپاره په حق سره

فَمَنِ اهْتَدٰى فَلِنَفْسِهٖ وَمَنْ ضَلَّ
نو هغه څوک چه هدایت ئے او موندلو نو ځپلے فائدے دَپاره ئے دَ او هغه څوک چه بے لارے شو

خوشحاله قهریه دی یا دَ الله تعالیٰ سره ملګرتیا کوی نو جواب دادے چه الله تعالیٰ پوره
ار کافی دے هیڅ ته حاجت نه لری۔ الْمُتَوَكِّلُوْنَ نه مراد مؤحدین دی۔
فائده:۔ په دے ایت کښ ئے مؤنث صیغ ذکر کړے دی دَ دے وجه نه چه
رد دے په خاص مشرکانو چه هغوی دَ عزّیٰ عبادت کوؤ او هغه مؤنثه پیرے وه
یا اوس زمانه کښ چه څوک دَ زنانه دَ قبر عبادت کوی یا تانیث کښ اشاره ده
کمزورے دَ معبودانو دَ دوی ته ځکه چه مؤنثات په کمزورے سره مشهور دی۔
۳۹ تا ۴۰:۔ او دا بیان دَ توکل دے په ذکر دَ براءت سره۔ مَكَانَتِكُمْ عادت او حالت
او قوت ته ویلے کیږی یعنی که شرک او کفر کړئ او که زما دَ ضرر رارسولو دَپاره څه
قوت او مکرونه استعمالوئ نو او کړئ اِنِّىْ عَامِلٌ، علیٰ مکانتی په کښ پټ دے مراد
دَ دے نه دعوت دَ دین او استقامت دے او هر کله چه دَ پیغمبر په حالاتو کښ وخت
په وخت ترقی کیدله نو دَ دے وجه نه مقید ئے نه کړو په علیٰ مکانتی سره۔
يُخْزِيْهِ دَ دے نه دَ دُنیا عذابونه مراد دی او عذاب مقیم نه دَ اخرت عذاب
مراد دے۔

فَإِنَّمَا يَضِلُّ عَلَيْهَا ۚ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ

نو یقینًا چه بے لارے کیږی وبال به یه هغه باندے وی، او ته نه یې په دوی باندے

بِوَكِيلٍ ﴿٤١﴾ اللَّهُ يَتَوَفَّى الْأَنْفُسَ حِينَ

ذمه وار. الله تعالیٰ اخلی ساهونه په وخت

مَوْتِهَا وَالَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا ۖ

دَ مرګ دَ هغوئ او هغه ساهونه چه نه مړکیږی (اخلی) په خوب دَ هغوی کښې

فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا الْمَوْتَ

نو بند کړی دَ واپسئ نه هغه چه فیصله کړے وی په هغے باندے په مرګ سره

وَيُرْسِلُ الْأُخْرَىٰ إِلَىٰ أَجَلٍ مُسَمًّى ۚ إِنَّ

او راپریږدی هغه بل لره تر نیټے مقرر پورے یقینًا

فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

په دے کښې ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه فکر کوی۔

۴۱: په دے کښې ترغیب او صداقت دَ قرآن ذکر کوی او مقصد په کښې تسلّی ده روستو دَ اعلان دَ برأت نه۔ لِلنَّاسِ په دے کښې دلیل دے چه قرآن دَ ټول دنیا والو دَ پاره کتاب الٰهی دے۔ وَمَا أَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيلٍ یعنې ته دَ دوی دَ هدایت ذمه وار نه یې تا ته دَ دوی انکار کول نه منسوب کیږی ځکه چه وکیل هغه وی چه هغه ته دَ مؤکل دَ کارونو نسبت کیدے شی او حقوق هم هغه ته راجع کیدے شی۔

۴۲: دَ دے ایت نه دریم باب دے تر ۵۲ پورے په دے کښې پنځم دلیل عقلی دے بیا مسئله دَ شفاعت ده نفیًا دَ غیرالله نه او اثباتًا دَ الله تعالیٰ دَ پاره او زجر دے په نفرت سره دَ توحید نه بیا نتیجه دَ دلیلونو په امر دَ دُعا دَ الله تعالیٰ سره بیا تخویف اخروی او تخویف دنیوی او دلیل عقلی شپږم دے۔ په دے (۴۲) کښې دلیل عقلی دے په ترقیٔ سره دَ ماقبل نه ځکه مخکښې دلیلونه دَ خلق او دَ تربیت او مالکیت دَ نفع او ضرر ذکر شول نو اوس تصرف دَ الله تعالیٰ په خوب او په مرګ سره ذکر کوی۔ اللَّهُ يَتَوَفَّى توفی په معنیٰ دَ پوره اخستلو سره دے لکه چه إِنِّي مُتَوَفِّيكَ کښې تیر شویدے بیا هر کله چه دلته یې (پاتے په بل مخ)

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُفَعَآءَ ط قُلْ

ایا	جوړ کړیدي	دوی	بیوا	دَ الله تعالیٰ نه	سفارشیان	ته اُوایه

الاَنْفُسَ لفظ ذکر کړو نو معلومه شوه چه اغستل دَ نفس مراد دی او دَ نفس او دَ روح په باره کښ دَ اهلِ علمو اختلاف دے بعضو ویلے دی چه نفس جدا دے او روح جدا دے یعنی نفس عام دے چه په هغه سره تنفس راځي که تمیز او حیات دواړه وی او که صرف حیات وی او روح خاص دے په هغے پورے چه په هغه سره حیات راځي او اکثر اهل علمو ویلے دی چه دا دواړه یو شے دے او دوه نومونه یې دی او دا غوره قول دے یو وجه دا ده چه په دے ایت کښ اغستلے شویدے په وخت دَمرګ کښ او په وخت دَخوب کښ دواړو ته یې انفس ویلے دی بله وجه دا ده چه په یو حدیث دَ وفات دَ ابوسلمه کښ په وخت دَ مرګ کښ قبض دَ روح یې ذکر کړے دے او دا حدیث امام مسلم روایت کړے دے او په بل حدیث کښ چه ابن ماجه راوړے دے اخرجی ایتها النفس الطیبة ویلے دی او په حدیث دَ لیلة التعریس کښ (دَ اوده کیدالو) په باره کښ اخذ بنفسی یارسول الله او بیا ورپسے ان الله قبض ارواحنا یې فرمائیلے دی نو معلومه شوه چه دواړه یو شے دے لیکن صفتونه په کښ دوه دی دَدے وجے نه یو ته نفس الحیاة ویلے کیږی او هغه اغستلے کیږی په وخت دَمرګ کښ بل ته نفس التمییز ویلے کیږی او هغه اغستلے کیږی په وخت دَخوب کښ ـ او تفسیر مدارک او روح المعانی او سراج المنیر کښ راوړے دی چه اطلاق دَ اغستلو دَ انفس په وخت دَخوب کښ دَدے وجے نه دے چه دا تشبیه دَ او دوه دَ مړو سره یعنی اُوده انسان تمییز او تصرف نشی کولے لکه چه مړے هم تمییز او تصرف نشی کولے ـ او دا قول دَدے مفسرینو رد دے په هغه چا باندے چه دَمړو دَپاره تصرفات او تمییز ثابته وی او وائی چه مړے دَخپل قبر دَپاسه مرغے ترا و ښځه پیژنی دا قول دَجهل خبرے دی ـ حِيْنَ مَوْتِهَا" یعنی په وخت دَ مرګ دَبدانو کښ" لیکن اضافت یې روح ته اوکړو ځکه روح دَبدن نه جدا شو نو دا هم دَ روح دَپاره یو قسم مرګ دے اګرچه دَروح دَپاره فنا نیشته ـ
وَالَّتِیْ لَمْ تَمُتْ فِیْ مَنَامِهَا دا سے یې په سورة انعام ۳۰ کښ توفی دَخوب په باره کښ ذکر کړے ده او په ۶۱ کښ توفی دَمرګ دَپاره ذکر کړے ده ابن کثیر ویلے دی چه اول ته وفات صغریٰ ویلے کیږی او دویم ته وفات کبریٰ ویلے کیږی او دلته ذکر دَدے دواړو په عکس سره دے ـ

فَيُمْسِكُ الَّتِي قَضٰى عَلَيْهِ الْمَوْتَ داجمله دليل دے چه دَمړو ارواح دَدوي بدن ته بيا واپس نه راځي مګرهله چه واپسي په نص صحيح سره ثابته شي لکه بعث بعد الموت او سورة البقره پنځه واقعات ذکر کړے دي چه روستو دَ مرګ نه بيا ژوندي کړے شوئ او دارنګ په معجزه دَ عيسى عليه السّلام سره مړي ژوندي کيدل داځو په صحيح او مريح نصوصو سره ثابت دي نو دَدے نص نه هغه مستثنىٰ دي۔
بحث په باره دَ اعاده دَ روح بدن ته په قبر (برزخ) کښ، جمهور علماء دَدے قائل دي په سبب دَحديث دَ براء بن عازب رضي الله عنه چه ابوداؤد او امام احمد وغيرهما روايت کړے دے او په هغے کښ اعاده او رد دَ روح جسد دَمړي ته په قبر کښ ذکر شويدے. او ابومحمد بن حزم وايي دي چه هيڅ روايت نه دے کړے په باره دَعذاب قبر کښ چه روح بدن ته واپس کيدے شي سوئ دَ منهال بن عمرو نه او هغه قوي نه دے او داخلاف دَايت دَ " وكنتم امواتا فاحياكم ثم يميتكم ثم يحييكم " دے او بيا ئے قرينه منصوصي او معجزاته مواضع مستثنىٰ کړے دي. ليکن ابن قيم الجوزيه په شرح دَ ابوداؤد ص۹۲/۱۳ کښ په تفصيل سره ثابت کړے ده چه روايت دَ ردالروح الى الجسد کښ کوم جرح چه ابوحاتم بستي او ابن حزم ذکر کړيده هغه جرح صحيح نه ده او ابوموسیٰ اصبهاني وايي دي چه دغه حديث حسن دے او ابونعيم او حاکم وغيرهما ورته صحيح وايي دي. هرکله چه داروايت ثابت دے نو دَدے ايت دَ سورة بقره سره موافقت څه رنګ دے ؟
په دے کښ يو قول دادے چه الوسي په روح المعاني کښ غوره کړے دے چه روح زوړ بدن ته نه واپس کيږي په قبر کښ بلکه جسد مثالي ته ورداخليږي او په دے باندے حديث دَ "حواصل طير خضر" په دليل کښ ذکر کړے دے دويم قول دادے چه ابن قيم په شرح دَ ابوداؤد کښ ذکر کړے دي چه واپسي دَروح بدن ته واپسي په قبر کښ عارضي وي په دے سره حيات مستقر په قبر کښ نه حاصليږي او دارنګ ابن عبد الهادي په الصارم المنکي کښ وايي دي چه په رد الروح في القبر سره حيات (حقيقيه) نه حاصليږي او دا منافي نه دے دَمرګ سره يعنې دغه واپسي دَ متشابهاتو نه ده په حقيقت باندے نه پوهيږو ليکن ايمان په ورباندے لرو دَ دے وجې نه ملا علي قاري په مرقات ص۱۹۸ کښ ذکر کړے دي چه امام ابوحنيفه رحمة الله په اعاده دَ روح کښ (بدن ته په قبر کښ) توقف کړے دے. او دارنګ په ص۲۳ کښ ذکر کړے دي چه تعلق دَ روح دَبدن دَمړي سره په طريقه دَحلول سره نه دے. نو بيا په دے تحقيق سره دَدے ايت (فيمسك التي قضىٰ عليه الموت) دَ رد الروح سره هيڅ منافات نيشته نو دَهغے نه انکار کول مناسب نه دي۔

أَوَلَوْ كَانُوا لَا يَمْلِكُونَ شَيْئًا وَّلَا يَعْقِلُونَ ﴿۴۳﴾

پوهیږي - او نه شیز د هیڅ
ایا اګر چه دوی اختیار نه لری

قُلْ لِّلّٰهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا ۭ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

اسمانونو د هغه لره بادشاهي ده
ته اوایه الله تعالی لره اختیار د ټول سفارش دے

وَالْاَرْضِ ۭ ثُمَّ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَاِذَا

او هر کله چه - تاسو
او زمکے ده بیا هغه طرف ته به او ګرځولے شئ

ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ اشْمَاَزَّتْ قُلُوْبُ الَّذِيْنَ

هغه کسانو د زړونه
یاد کړیشي الله تعالی په یو والی سره تنګ شي

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ ۚ وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ

چه ایمان نه لری په اخرت باندے او هر کله چه یاد کړے شي هغه کسان

مِنْ دُوْنِهٖٓ اِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿۴۵﴾ قُلِ

چه سوا د الله تعالی نه نو دغه وخت دوی ډیره خوشحالی ښکاره کوی - ته اُوایه

۴۳:- په دے ایت کښ زجر دے په عقیده د شفاعة شرکیه باندے یعنی دوی فکر په ځکني دلیلونو کښ نه کوی بلکه ځان د پاره بهانے ګوری او وائي چه موږ د دے معبودان من دون الله بندګی د دے وجے نه نه کوو چه دوی خدایان دی بلکه صرف سفارشیان ئے ګڼړو. بیا رد دے په دوی باندے چه دغه معبودان ستاسو د هیڅ څیز اختیار او قدرت نه لری نو بغیر اذن نه د شفاعت کولو اختیار ئے کله کیدے شي او دا رنګ پوهه نه لری ستاسو په بندګے کولو باندے۔
۴۴:- دا بل رد دے د دوی په عقیده شرکیه باندے یعنی اختیار صرف د الله تعالی دے نو هیڅوک د هغه د اذن نه بغیر شفاعت نشي کولے او د شفاعت ډیر قسمونه دی د دے وجے نه تاکید ئے په جمیعًا سره اوکړو۔
۴۵:- دا زجر دے د دوی په یو خصلتِ قبیحه باندے او جواب دے د سوال د دوی که دوی اُوائي چه موږ شفاعت بغیر اذن نه نه وایو بلکه زموږ د شفاعت د پاره به زموږ معبودانو ته الله تعالی اذن ورکوی نو د جواب حاصل دا دے چه ستاسو د الله تعالی د ذکر د توحید سره دشمني وه نو څه رنګه به ستاسو د پاره اذن ورکوی۔ وَاِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَحْدَهُ لکه چه مخکښ ایت کښ تیر شول

اللّٰهُمَّ فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ عٰلِمَ الْغَيْبِ

اے اللہ پیدا کوونکے دَ اسمانونو او دَ زمکے پوهه په هر پټ

وَالشَّهَادَةِ اَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيْ مَا

ښکاره باندے ته به فیصله کوے په مینځ دَ بندګانو ستا کښ په هغه خیز کښ

كَانُوْا فِيْهِ يَخْتَلِفُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَلَوْ اَنَّ لِلَّذِيْنَ

چه وُو دوی په هغے کښ اختلاف یئے کوؤ . او که چرے شی دَپاره دَ

چه قل لله الشفاعة جميعا یا او یلے شی چه دَ بو الله تعالیٰ بندګی کوئے صرف هغه ته رامبد شه وایئے صرف دَ هغه په نوم باندے نذرانے کوئے .

اَشْمَاَزَّتْ په دے کښ ډیره مبالغه ده ځکه چه اشمئزاز دیته ویلے کیږی چه زړه دَ غصے او دَ خفګان نه داسے ډک شی چه څرمن دَ مخ او تندی کښ چو نړوته پیدا شی . وَاِذَا ذُكِرَ الَّذِيْنَ مِنْ دُوْنِهٖ یعنی دَ دوی دَ معبودانو دَپاره قدرت او علم دَ غیب وغیره ثابته وے په دروغو قصو او دلیلونو باطلو سره یا دَ هغوی دَ کرامتونو په دروغو سره ذکر کیدے شی . يَسْتَبْشِرُوْنَ په دے کښ هم ډیره مبالغه ده یعنی زړه یئے دَ خوشحالے نه دومره ډک شی چه اثار دَ خوشحالے په مخ او تندی کښ ښکاره شی . او داسے زمونږ په زمانه کښ ډیر موجود دی چه توحید بیان کوؤ نکو ته ډیر غُصّه وی او وائی چه دا دَ اولیاؤ منکران دی لکه چه مفسر الوسی هم چیله قصه دَ دے ایت په تفسیر کښ ذکر کړے ده او هم داسے مضمون په سورة اسراء س۴۶ کښ ذکر وؤ چه دوی دَ توحید دَ بیان په وخت شا کانے او ګرځوی او سورة صافات س۳۵ کښ دی چه استکبار کوی او سورة صٓ س۵ کښ دی چه تعجب کوی . او سورة غافر س۱۲ کښ دا یئے سبب ګرځولے دے دَپاره دَ همیشه پاتے کیدلو په جهنم کښ .

س۴۶ : هر کله چه دَ مشرکانو خباثتِ عظیمه بیان شو چه نفرت دے دَ توحید نه او داسبب دَ خفګان دَ موَحد دے نو اوس دَ موَحد دَ زړهٔ دَ تسلیٔ دَپاره هغه ته دَ دُعا تلقین کوی . او په دے دُعا کښ وسیله دَ اسماؤ او صفاتو دَ الله تعالیٰ سره ده . صفت دَ لوے قدرت فاطر السمٰوٰت والارض دے او صفت دَ لوے علم عالِمَ الغیب والشهادة دے او صفت دَ لوے اختیار او تصرف اَنْتَ تَحْكُمُ الخ دے او جواب دَ نورا حذق دے دَ تعمیم دَپاره یعنی دَ دے (رپاتے په بل مخ)

ظَلَمُوْا مَا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَّمِثْلَهٗ مَعَهٗ

ظالمانو هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی ټول او پشان د هغې ورسره نور

لَافْتَدَوْا بِهٖ مِنْ سُوْٓءِ الْعَذَابِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ

خامخا دوی به بدله ورکوی په هغې سره د ناکاره عذاب نه په ورځ د قیامت

وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا

او ښکاره به شی دوی ته د طرف د الله تعالیٰ نه هغه حال چه دوی ئې

يَحْتَسِبُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا

ګمان هم نه کوؤ او ښکاره به شی دوی ته ناکاره عاقبتونه د هغه عملونو چه دوی کړی ئې

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۴۸﴾

او راګیر به کړی دوی لره هغه څیز چه دوی د په هغې پورے چه توقے کولے ۔

صفاتو نه روستو که انسان هر یو حاجت غواړی نو قبلیږی لکه سعید بن جبیر نه روایت د ے هغه ویلے دی ؓ زه پیژنم دا سے ایت چه څوک ئې اولولی او د الله تعالیٰ نه سوال کوی نو الله تعالیٰ ئې ورکوی نو دا ایت ئې اولوستلو۔ او په حدیث د صحیح مسلم کښ د دے صفاتو نه روستو خاص دعا هم ذکر کړے شوے ده چه نبی صلی الله علیه وسلم به د شپے د مونځ په اول کښ دا سے لوستل اللّٰهم رب جبریل ومیکائیل واسرافیل علیهم السلام فاطر السموات والارض عالم الغیب والشهادة انت تحکم بین عبادك فیما کانوا فیه یختلفون راهدنی لما اختلف فیه من الحق باذنك انك تهدی من تشاء الی صراط مستقیم) یعنی په اختلافی مسئلو کښ چه کوم حق جانب د ے نو د هغې خود نه ماته اوکړه۔ ۴۷ ۴۸:۔ په دے ایاتو کښ ذکر د فیصلے او د حکم د الله تعالیٰ دے په منکرینو د توحید باندے او دا تخویف اخروی د ے په ذکر د درے وعیدونو سره اول وعید دا د ے چه د دوی نه به هیڅ فدیه په بدل د عذاب کښ نه قبلیږی لکه چه سورة العمران ۹۱ رعد ۱۸ مائده ۳۶ کښ دی۔ دریم وعید وَبَدَا لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مَا لَمْ يَكُوْنُوْا يَحْتَسِبُوْنَ او دا شامل د ے هغه مشرکانو او مبتدعینو ته چه اعمال ئې کول او خیال ئې داوؤ چه دا حسنات دی لیکن معلومه به شی په قیامت کښ چه دا سیئات وو۔ دا قول د مجاهد د ے او دا مناسب د ے

فَاِذَا مَسَّ الْاِنْسَانَ ضُرٌّ دَعَانَا ز ثُمَّ اِذَا

نو هر کله چه اورسیږی انسان ته تکلیف نو رابلی مونږ لره بیا هر کله

خَوَّلْنٰهُ نِعْمَةً مِّنَّا لا قَالَ اِنَّمَآ اُوْتِيْتُهٗ عَلٰى

چه ورکړو مونږ هغه ته څه نعمت د خپل طرف نه دے وائی یقینًا راکړے شویدے دا ماته په

عِلْمٍ ط بَلْ هِىَ فِتْنَةٌ وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

علم زما بلکه دا امتحان دے لیکن ډیر د دوی نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۹﴾ قَدْ قَالَهَا الَّذِيْنَ مِنْ

پوهه نه لری - یقینًا ویلے وه دا خبره هغه کسانو چه

دَ ابتدا دَ سورت سره "ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی" او هغه خلقو ته چه ګناهونه کوی په دے خیال چه دَ مرګ نه مخکښ توبه او باسو او ناګهه وریانده مرګ راشی هغوی ته هم شامل دے دا دَ سدّی روایت دے. او دَ سفیان ثوری نه روایت دے تباهی ده ریاکارو لره دا دَ دوی ایت او حالت دے. او دریم وعید وَبَدَا لَهُمْ سَيِّئَاتُ مَا كَسَبُوْا دا اضافت بیانیه دے یعنی بدکارونه دَ دوی هغه دی چه دوی کړیدی یا سیئات نه مراد عقوبات سیئه دی یعنی ناکاره سزاګانے دَ دوی دَ عملونو.

۴۹:- دا زجر دے دَ مشرکانو په بل خباثت باندے او فَاِذَا په فَآءِ سره یې ذکر کړو ځکه چه دا علت دَ ماقبل تخویف دے او تفصیل دے دَ ظلم دَ (ظلموا) چه دَ احسان دَ الله تعالیٰ هغه ته نسبت نه کوی بلکه خپل حق او کمال یې ګڼړی.

عَلٰى عِلْمٍ یعنی الله تعالیٰ عالم وو چه زهٔ دَ دے نعمت اهل او حق داریم یا مراد دا دے چه هر نعمت چه ورته حاصل شی نو خپل کسب او کوشش ته یې نسبت کوی او خپل محنت مستقل ګڼړی لکه چه دا سے دهری سړے وینا کوی. او سورة قصص ۷۸ کښ علم عندی کښ صرف دویمه معنیٰ مراد ده.

فائده:- اوتیته کښ ضمیر مذکر راجع کړے دے نعمت ته په تاویل دَ شیئًا من النعمة یعنی که لګ نعمت وی نو هم دَ الله تعالیٰ احسان نه منی او بَلْ هِىَ کښ ضمیر مؤنث راوړے دے په تاویل دَ عطیه سره ځکه چه ورکول دَ پاره دَ امتحان دی.

قَبْلِهِمْ فَمَآ اَغْنٰى عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا

مخکښی دَ دوی نه وو نو لرے نه کړو دَ دوی نه (عذاب) هغه عملو نه

يَكْسِبُوْنَ ﴿۵۰﴾ فَاَصَابَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ؕ

چه دوی کول . نو اورسیدلو دوی ته ناکاره (عاقبت) دَ هغه عملو نو چه دوی کول

وَالَّذِيْنَ ظَلَمُوْا مِنْ هٰٓؤُلَآءِ سَيُصِيْبُهُمْ

او هغه کسان چه ظلم ئے کړے دے دَ دے موجود کسانو نه زر دے اوبه رسیږی دوی ته

سَيِّاٰتُ مَا كَسَبُوْا ۙ وَمَا هُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿۵۱﴾

ناکاره عاقبت دَ هغه عملو نو چه دوی کړیدی او دوی نه دی عاجزی کوؤنکی الله تعالی لره .

اَوَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَبْسُطُ الرِّزْقَ

آیا دوی نه پوهیږی چه یقیناً الله تعالی فراخوی روزی

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَقْدِرُ ؕ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ

هغه چا لره چه اوغواړی او تنګوی یقیناً په دے کښ ډیر دلیلونه دی

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾ قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ

هغه قوم لره چه ایمان لری . ته اُوایه اے بندګانو زما هغه کسان

ت ۵۰ ساھ :- دا تخویف دے په ذکر دَحال دَ سابقینو سره چه دا کلمه (اوتیته علی علم) سبب دَ عذاب دے په تیرشوے منکرینو باندے لکه چه قارون هم دا سے ویلے وو سورۃ قصص ت ۷۸ کښ دی. فَمَآ اَغْنٰى ما نافیه دے یا استفهامیه دے. مِنْ هٰٓؤُلَآءِ من بیانیه یا تبعیضیه دے . سَيُصِيْبُهُمْ مَا كَسَبُوْا عذاب دَ قحط ته اشاره ده چه په مکے والو باندے راغلے وؤ دَ دے وجے نه وروستو دَ رزق دَ فراخۍ او تنګسیا ذکر کوی.

ت ۵۲ :- دا دلیل عقلی شپږم دے مخکښں دلیلو نو کښں عام تصرف ئے ذکر کړے وؤ او په دے ایت کښں خاص په رزق کښں تصرف کول ذکر کوی چه دا هم په الله پورے خاص دے لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ایمان په دے خبره باندے چه حوادث ټول دَ الله تعالی دَ طرف نه دی او یقین لری چه فراخی دَ رزق دَ چا دَپاره استدراجاً وی او تنګوالے دَ روزئ دَ چا دَپاره عزت وی.

أَسْرَفُوْا عَلٰٓى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ

چه زیاتے کړیدے په ځانونو خپلو باندے مه نااُمیده کیږئ د رحمت

اللّٰهِ ۭ إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا ۭ إِنَّهٗ

د الله تعالیٰ نه یقیناً الله تعالیٰ بخی ګناهونه ټول یقیناً الله

هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵۳﴾ وَأَنِيْبُوْٓا إِلٰى رَبِّكُمْ

بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ او اوګرځئ (په توبه کولو سره) رب خپل ته

وَأَسْلِمُوْا لَهٗ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَكُمُ

او تابع شئ د حکمونو د هغه مخکښ د دے نه چه راپه شی تاسو ته

۵۳: د دے ایت نه خلورم باب دے تر ۶۱ پورے په دے کښ ترغیب دے توبه کولو ته د شرک او د نورو ګناهونو نه او تابعدارئ د قرآن ته د پاره د دفع کولو د درے عذرونو بیا تخویف او بشارت دے بیا دوه عقلی دلیلونه عامه ذکر کوی اووم او اتم۔ بیا دلیل وحی په رد د شرک فی العبادت باندے۔

په دے ایت (۵۳) کښ طریقه ذکر کوی د پاره د بچ کیدلو د عذاب نه کوم چه مخکښ ایاتو کښ ذکر شویدے او هغه طریقه توبه کول دی د شرک او د نورو ګناهونو نه۔ یَا عِبَادِیَ، دے نه مؤمنان مراد دی نو الذنوب جمیعاً نه مراد ګناهونه دی بغیر د شرک او کفر نه۔ یا مراد د دے نه ټول بندګان دی مشرکان تو ته هم شامل دے نو په الذنوب کښ شرک هم داخل دے۔

(سوال) په دے احتمال باندے د "إِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ" سره ظاهرًا مخالفت راځی؟

(جواب) په دے ایت کښ مغفرت په توبے کولو سره مراد دے چه په توبه سره شرک او کفر هم معاف کیږی او په دغه ایت کښ په غیر د توبے نه مراد دے او د دے تائید حدیث د طبرانی دے چه دا ایت نازل شو نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه زهٔ د دے ایت په مقابله کښ دنیا او ما فیها هم نه خوښوم نو یو سړی اوویل که چا شرک کړے وی نو نبی صلی الله علیه وسلم یو ساعت چُپ شو بیا ئے اوفرمائیل که شرک ئے کړے وی نو هم او درے کرته ئے دغسے اوفرمائیل۔

الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ ﴿۵۴﴾ وَاتَّبِعُوٓا

عذاب بیا به مدد نشي کیدے ستاسو . او تابعداري اوکړئ

أَحْسَنَ مَآ أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ

دَ ښائسته هغه چه نازل کړے شویدے تاسو ته دَ طرف دَ رب ستاسو نه

مِّنْ قَبْلِ أَنْ يَّأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ بَغْتَةً وَّ

مخکښ دَ دے نه چه راشي تاسو ته عذاب ناساپه او

أَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴿۵۵﴾ أَنْ تَقُولَ

تاسو به نه پوهیږے . (داخبرم درکړو) دَپاره دَ دے چه اونه وائي

نَفْسٌ يَّٰحَسْرَتٰى عَلٰى مَا فَرَّطْتُ فِىْ جَنْبِ اللّٰهِ

یو نفس هائے افسوس دے په هغه کوتاهي باندے چه ما کړیده په اړخ دَ (حق دَ طاعت) دَ الله

۵۴ :- دا معطوف دے په پټ لفظ باندے چه استغفروا الله وانیبوا دے یعنې دَ شرک نه توبه او باسئ او اوکړځئ الله تعالیٰ ته په توحید سره . وَأَسْلِمُوْا کښ انقیاد په اعتبار دَ عملونو سره مراد دے .

۵۵ :- دا ترغیب دے قران ته یعنې توبه او اثابت او اسلام په تابعدارئ دَ قران کښ دے . أَحْسَنَ مَآ أُنْزِلَ اضافت بیانیه دے ځکه چه ټول قران احسن دے لکه ۲۳ کښ تیر شویدی . یا مراد دَ احسن نه محکم دے یعنې دَ محکماتو دَ قران اتباع اوکړئ . مخکښ ایت کښ هم من قبل ان یاتیکم العذاب وو او په دے ایت کښ هم دینه اشاره ده چه په توبه کولو او په اتباع دَ قران کښ تادی اوکړئ روستو والے مکوئ هسے نه چه عذاب راشي نو بیا به هیڅ نشے کولے .

فائده :- ځوک چه دَ شرک نه توبه نه اوباسي نو عقیده لري چه زما سره به معبود امداد کوي نو په اول ایت کښ ئې لا تنصرون ذکر کړو . او اتباع دَ قران چه نه کوي نو هغوی وائي چه روستو به نیک عمل اوکړم نو دَ هغه دَپاره اوفرمائیل چه دَ عذاب وخت معلوم نه دے ناګهه راځي نو ولے عمل کول روستو کوے (والله اعلم) .

وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ دا تفسیر دے دَ بَغْتَةً یعنې چه وخت او تاریخ ئې نه معلومیږي

وَاِنْ كُنْتُ لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾ اَوْ تَقُوْلَ
او يقيناً ووم زهٔ خامخا دَ مسخرے کوونکو نه په حق پورے . يا او نه وائي
لَوْاَنَّ اللّٰهَ هَدٰىنِيْ لَكُنْتُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۵۷﴾
که چرے الله تعالیٰ هدايت کړے وے ماته نو وے به زهٔ دَ متقيانو نه
اَوْ تَقُوْلَ حِيْنَ تَرَى الْعَذَابَ لَوْاَنَّ لِيْ كَرَّةً
يا او نه وائي کوم وخت چه اوينى عذاب لره که چرے وے ما لره دوباره تلل دنيا ته

۵۶ :. دا دَ درے عذرونو (بهانو) دفع ذکر کوی يعنی که چرے قرآن نه وے نازل کړے شوے نو دوی به دا عذرونه کړے وے اول عذر دا دے
اَنْ تَقُوْلَ نَفْسٌ ، نکره دَپاره دَ خاص قسم ده چه هغه کافر او مشرک دے.
يَاحَسْرَتٰى په اصل کښ ياحسرتي وو دَ يا په ځائے باندے يئ الف راؤړو دَپاره دَ دلالت کولو په استغاثه باندے. جَنْبِ اللّٰهِ دا دَ متشابهاتو نه دے په کيفيت کښ، اګرچه معنیٰ يئ ظاهره ده چه اړخ ته ويلے کيږی او په معنیٰ ظاهری سره محکم دے او دَ تَفْرِيْط نه مراد شرک او کفر او ظلمونه ګناهونه کول دی او دَ الله تعالیٰ حقونو کښ کمے کول او سستی کول دی. وَاِنْ كُنْتُ، ان نافيه دے او لام په لَمِنَ السّٰخِرِيْنَ کښ په معنیٰ دَ اِلّا دے يا ان مخفف دے دَ مثقل نه. اَوْكُنْتُ کښ اشاره ده چه مسخرے زما طبيعت ګرځيدلے وو اَلسّٰخِرِيْنَ مسخرے کوونکے په اهلِ حق پورے يعنی صرف معصيت مې نه دَے کړے بلکه په اهلِ طاعت پورے مې مسخرے هم کړے دی.
۵۷ :. دا دويم عذر دے يعنی که دَ قرآن په راليږلو سره الله تعالیٰ هدايت دَحق نه وے کړے نو دے خلقو به عذر پيش کړے وے چه يا الله تعالیٰ تا به مونږ ته هدايت کړے وے ليکن هرکله چه قرآن دَ هدايت دَپاره نازل کړے شويدے نو اوس دوی دا حجت (بهانه) نه شی پيش کولے دلته مراد دَ هدايت نه صرف بيان دَحق دے په کتاب يا په رسول راليږلو سره او دَ دے تائيد سورة طٰهٰ ۱۳۴ کښ تير شويدے.

فَاَكُوْنَ مِنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۸﴾ بَلٰى قَدْ جَآءَتْكَ

نو زه به وے د خايسته عمل كوونكو نه - هان بلكه يقينًا راغلے وو تا ته

اٰيٰتِىْ فَكَذَّبْتَ بِهَا وَاسْتَكْبَرْتَ وَكُنْتَ

ايا تونه زما نو تكذيب اوكړو تا د هغے او لوئي د اوكړه او وے ته

مِنَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۹﴾ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

د كافرانو نه . او په ورځ د قيامت كښ

تَرَى الَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ وُجُوْهُهُمْ

وينے به ته هغه كسان چه دروغ ئے ويلے دى په الله تعالىٰ باندے مخونه د دوى به

سـ۵۸ :- دا دريم عذر دے يعنى كه قران نه وے نازل كړے شوے نو چه دوى به دوباره دنيا ته راتلل غوختلے نو حق به ئے وو او الله تعالىٰ به دا حق منلے وے ليكن هركله چه قران نازل كړے شوے او دوى ته پوره عمرهم وركړے شوے دے او قران نه منى نو كه قيامت كښ اُوائى چه ما دنيا ته واپس كړه چه څه ايمان راوړم نو دا سوال به ئے نه قبليږى بلكه ورته به هغه جواب اوشى كوم چه سورة فاطر ۳۷ كښ تير شويدے .

فائده :- دا قولونه به د دوى د طرفه نه په قيامت كښ واقع كيږى ليكن هيڅ اثر به ورباندے نه مرتب كيږى او د عذر په طور سره به هم نه قبليږى ځكه د قران په راليږلو الله تعالىٰ دا عذرونه دفع كړيدى او دا يو لطيفه نكته ده چه د تَقُوْلَ په اول كښ په درے واړه ځايونو كښ لَا مقدّر دے ليكن ښكاره ئے نه دے ذكر كړے يعنى قول به وى ليكن پښان د نيشت به وى . بيا عام مفسرينو ويلے دى چه دا قولونه به د هريو منكر د طرف نه وى او قتادهؒ ويلے دى چه د دوى درے قسمونه دى او د هر قسم د طرف نه به جدا جدا قول وى .

سـ۵۹ :- دا جواب دے د دغه قولونو چه هركله چه دوى په قيامت كښ دغه عذرونه پيش كړى نو دوى ته به الله تعالىٰ اوفرمائى چه دا عذرونه قبول نه دى ځكه چه تاسو ته زما ايا تونه راغلے وو ليكن تاسو انكار كړے وؤ . بَلٰى (رسوال) كه اويلے شى چه دا لفظ خو څكښ په كلام كښ نفى غواړى او دلته نفى نيشته جواب دا دے چه د درے واړه قولونو حاصل دا دے چه مونږ د حق نه خبر نه وو نو جواب به اوشى په بَلٰى سره او بيا د دوى انكار ئے په درے طريقو سره ذكر كړيدے

مَثْوًى لِّلْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۶۰﴾

ایا نیشته په جهنم کښې ځائے دَ اوسیدو دَ لویئے کونکو دَپاره تور وی.

وَيُنَجِّى اللّٰهُ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا بِمَفَازَتِهِمْ ز

او بچ به کړی الله تعالیٰ هغه کسانو لره چه ځان ئےساتلے دَ شرک نه په سبب دَ کامیابئ دَ دوی

لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۶۱﴾

نه به رسیږی دوی ته هیڅ تکلیف او نه به دوی غمژن وی.

اَللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ ز وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ

الله تعالیٰ پیدا کوونکے دَ هر څیز دے او هغه په هر

شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۶۲﴾ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ

څیز باندے ذمه وار دے. خاص هغه لره کنجیانے دَ اسمانونو

په ښائسته ترتیب سره اول تکذیب دے دویم استکبار دے چه دَ تکذیب په وجه سره پیدا کیږی دریم کفر دے چه دَ استکبار په سبب سره پیدا شوید ے.

۶۰: روستو دَ ذکر دَ دفع دَ بهانو نه تخویف اخروی ذکر کوی یعنی جرم ئے ثابت شو او بهانه ئے ختم شوه نو شرمنده به وی او مخ به ئے تور وی. اَلَّذِيْنَ كَذَبُوْا عَلَى اللّٰهِ په دے کښې داخل دی مشرکان چه الله تعالیٰ ته نسبت دَ شریک او دَ ولد کوی او بقائی ویلے دی چه معتزله او هغه څوک چه دروغ وائی او خیال ئے دا وی چه الله تعالیٰ زما دَ دروغو نه خبر نه دے نو په دے کښې هغوی هم داخل دی.

لِلْمُتَكَبِّرِيْنَ تور والے دَ مخ په ورځ دَ قیامت کښې ډیر ذلت او سپکوالے دے نو دا مناسب دے دَ حال دَ متکبر سره.

۶۱: په دے ایت کښې بشارت دے بِمَفَازَتِهِمْ دا ظرف مکان دے مراد تری نه جنت دے یا مصدر میمی دے یعنی متقیانو ته به دَ عذاب نه نجات ورکوی بسبب دَ دخول دَ جنت یا مراد دَ مفازة نه ایمان او عمل صالح دے یعنی ذکر دَ مسبّب او مراد تری نه سبب دے. لَا يَمَسُّهُمُ السُّوْٓءُ تفسیر دَ مفازة دے په اول توجیه سره یا بیان دَ ینجی دے.

۶۲: دا دوم دلیل عقلی دے او دوه کلی صفتونه دی، پیدا کول دَ هر څه او حفاظت او ذمه واری دَ هر څه او دا سبب دَ تقوی دے یعنی دَ الله تعالیٰ نه ویره دَ دے وجے نه کوی چه په دے صفتونو باندے عقیده لری.

وَالْاَرْضِ ؕ وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِاٰیٰتِ اللّٰهِ

او زمکے دی او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے په ایاتونو دَ الله تعالیٰ

اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۳﴾ قُلْ اَفَغَیْرَ اللّٰهِ

دغه کسان خاص دوی پوره تاوان والا دی۔ ته اُوایه ایا سیوا دَ الله تعالیٰ نه

تَاْمُرُوْٓنِّیْۤ اَعْبُدُ اَیُّهَا الْجٰهِلُوْنَ ﴿۶۴﴾

حکم کوئے تاسو ماته چه بندګی دِ اوکړم اے ناپوهانو۔

وَلَقَدْ اُوْحِیَ اِلَیْكَ وَاِلَى الَّذِیْنَ مِنْ

او یقیناً وحی کړے شویده تاته او هغه کسانو ته چه ستا نه

قَبْلِكَ ۚ لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ لَیَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ

مخکښ دی که چرے شرک دِ اوکړو خامخا برباد به شی عمل ستا

وَلَتَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِیْنَ ﴿۶۵﴾ بَلِ اللّٰهَ

او خامخا شے به ته دَ تاوان والو نه۔ بلکه خاص الله تعالیٰ لره

فَاعْبُدْ وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِیْنَ ﴿۶۶﴾

بندګی کوه او یږه همیشه دَ شکر ګذارو نه۔

۶۳:۔ دا تم دلیل عقلی دے په دیکښ دریم صفة کلیه ذکر دے یعنی اختیار تصرف
دَ هر څه دَ الله تعالیٰ سره دے اوچابیانے چه خاص دَ الله تعالیٰ سره دی تومعلومه شوه
چه دَ خزانو دَ ورکولو اختیار منډا هم صرف هغه دے بِاٰیٰتِ اللّٰهِ دا صفتونه دَ الله تعالیٰ
چه ذکر شول دا داخل دی په ایات الله کښ دَ دے منکر او مشرک تباه کیدونکے دَے.
۶۴:۔ دا تفریع ده په تیر شوے دلیلونو باندے یعنی روستو دَ دے ښکاره دلیلونو نه
په توحید فے العبادت باندے بیا هم تاسو ماته دعوت راکوئے دَ عبادت دَ غیر الله
داخو ډیر لوے جهل دے دا دلیل دے په دے خبره باندے چه څوک دعوت
ورکوی شرک ته نو هغه پوره جاهل دے۔
۶۵ ۶۶:۔ دا علت دَ ماقبل دے یعنی دَ دے مشرکانو جاهلانو دَ امر او دَ دعوت نه
ځان بچ اوساته ځکه چه اتفاق دَ وحی دَ ټولو انبیاؤ سره واضح شویدا چه په شرک کولو
سره هر عمل بربادیږی۔ لَىِٕنْ اَشْرَكْتَ معنیٰ دا ده چه هر یو نبی ته په خپل خپل وخت کښ
دا وحی کړے شویده او دا سے ذکر په سورة انعام ۸۸ کښ هم دے۔ دا دلیل دے

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ۖ وَالْاَرْضُ

او قدر نه دے کړے دوی دَ الله تعالیٰ لائق قدر دَ هغه او زمکه

جَمِیْعًا قَبْضَتُهٗ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ

ټوله موټے دَ هغه به وی په ورځ دَ قیامت او اسمانونه به

مَطْوِیّٰتٌۢ بِیَمِیْنِهٖ ؕ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰی

انغښتے شوے وی په ښی لاس دَ هغه کښ پاک دے او اوچت دے

عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۶۷﴾ وَنُفِخَ فِی الصُّوْرِ

دَ هغے نه چه دوی ورسره شریک جوړوی. او پوکے به اوکړے شی په شپیلۍ کښ

په قباحت دَ شرک باندے چه دَ پیغمبر عمل ورته تینګیدلے نشی نو دَ نورو خلقو عمل په شرک نه څه رنګ ټینګ شی. او دَ پیغمبر نه خو ګناه نه کیږی نو لئن اشرکت خطاب په طریقه دَ فرض تقدیر دے یعنی بالفرض والتقدیر که پیغمبر شرک اوکړو نو عملونه به ئے برباد شی. بَلِ اللّٰهَ فَاعْبُدْ ـ کښ ایت کښ منع کول دو دَ شرک نه او په دے ایت کښ امر دَ توحید دے.

او الشّٰکِرِیْنَ نه مراد ظاهر وَل او دعوت کول دَ توحید دی.

۶۷ ـ دَ دے ایت نه تر اخر دَ سورت پورے پنځم باب دے په دے کښ زجر او تخویف اخروی دے په ذکر دَ درے حالاتو سره اول فناء دَ عالم دویم بعث او حساب دریم جزا او بشارت تفصیلیه دے. په دے (۶۷) کښ زجر دے مشرکین فی العبادت ته. او قَدَرُ په معنیٰ دَ تعظیم دے او حق تعظیم دَ الله تعالیٰ دادے چه بندګی دَ هغه په داسے طریقه اوکړے شی چه هر قسم شرک نه پاکه بندګی وی او مشرک داسے نه کوی نو معلومه شوه چه مشرکینو الله تعالیٰ نه دے پیژندلے او نه ئے تعظیم کړے دے او نه ئے صفت دَ هغه کړے دے په لائق طریقه سره. وَالْاَرْضُ جَمِیْعًا قَبْضَتُهٗ په دے کښ عظمت شان دَ الله تعالیٰ ذکر کوی. لفظ دَ جمیعًا دلالت کوی چه مراد دَ دے نه ټولے (راووه) زمکے دی او دَ قبض نه مراد رانیول دَ هغه دی په لاس کښ دَ دے وجے نه دَ قیامت تخصیص ئے کړے دے صرف قدرت ترینه مراد نه دے ځکه قدرت ئے په دنیا کښ هم شته نو تخصیص دَ قیامت ته حاجت نه ووُ. بِیَمِیْنِهٖ دا دَ متشابهاتو نه دے په کیفیة کښ او په اعتبار دَ معنیٰ سره محکم دے یعنی ښے لاس او کیفیة دَ هغے ریا نکے په بل مخ)

فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ

نو مره به شی هغه څوک چه په اسمانونو کښې دی او هغه څوک چه په زمکه کښې دی

اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ ثُمَّ نُفِخَ فِيْهِ اُخْرٰى

مګر هغه څوک چه غواړی الله تعالیٰ بيا د هغوی بيا به پوکے اوکړے شی په هغې کښې بل ځل

فَاِذَا هُمْ قِيَامٌ يَّنْظُرُوْنَ ۞۶۸ وَاَشْرَقَتِ

نو دغه وخت به دوی ولاړ دی ګوری به . او روښانه به شی

الله تعالیٰ پیژنی . بیا د قبضے او د یمین نه مشبهه او مجسمه دلیل نیسی چه د الله تعالیٰ مشابه او جسم شته دے نو جواب یې اوکړو چه سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ

یعنی په قدرت او علم کښې د هغه شریک او دا رنګ شبیه یې نشته نو عبادت کښې یې هم شریک نیشته دے . او هرکله چه اسمانونه زمکے قبض کول علو (راوچت والے) د الله تعالیٰ غواړی د دے وجے نه یې وتعالیٰ هم ذکر کړے دے په روایت د ترمذی کښې دی "چه عائشه رضی الله عنها تپوس اوکړو چه په دا سے حالت کښې انسانان به په کوم ځائے کښې وی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب کښې اوفرمائیل چه د جهنم د پاسه په پُل باندے به وی".

۶۸ :۔ په دے کښې تخویف اخروی دے او په دے کښې سره د ماقبل نه حال د فناء د عالم ذکر کوی . فَصَعِقَ صعق په معنیٰ د مرګ دے او یا په معنیٰ د بے هوشئ سره دے دلته په اوله معنیٰ سره غوره دے اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ په دے کښې ډیر اقوال دی د قتاده قول دا دے چه د دے مصداق الله تعالیٰ ته معلوم دے مونږ ته نه دے معلوم دویم قول مشهور دا دے چه مراد ترینه هغه څوک دی چه الله تعالیٰ د فنا د پاره نه دی پیدا کړی لکه حورے غلمان د جنت او مارانړمانان د جهنم دریم قول کښې ملائک مراد دی چه هغوی به نه وفات کیږی . څلورم قول دا دے چه د دے نه مراد هغه خلق دی چه مخکښې مړه شویدی او فصعق یې د دے وجے نه ذکر کړو چه په دغه وخت کښې د دوی د مرګ سبب په هیبت د قیامت وی . او په دویمه معنیٰ سره مراد د من شاء الله نه موسیٰ علیه السّلام دے لیکن هر کله چه په دغه حدیث د صعق کښې چه لفظ فلاادری راغلے دے چه نبی صلی الله علیه وسلم ته به هغه وخت هم علم نه وی چه په موسیٰ علیه السلام باندے صعق راغلے دے او که نه نو استثناء د موسیٰ علیه السلام یقیناً داخل کړل صحیح نه دی.

الْأَرْضُ بِنُوْرِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتٰبُ

زمکه (د قیامت) په نور د رب د هغې سره او کیخودے به شي عملنامے

وَجِايْٓءَ بِالنَّبِيّٖنَ وَالشُّهَدَآءِ وَقُضِيَ

او راپه وستلے شي پیغمبران او شهیدان او فیصله به اوکړیشي

بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۹﴾

په مینځ د دوی کښې په حقه سره او په دوی باندے به ظلم نه شي کیدے۔

وَوُفِّيَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ وَهُوَ اَعْلَمُ

او پوره به ورکړیشي هر نفس ته بدله د هغه عملونو چه کړیدي او الله تعالیٰ ښه پوهه دے

بِمَا يَفْعَلُوْنَ ﴿۷۰﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

په هغه کارونو چه دوی ئې کوي۔ او او به شړلے شي کافران

اودَدے ایت نه صراحةً معلومه ده چه شپیلئ به دوه کرته وهلے کیږي اول دَ فنا دَپاره او هغې ته فزع هم وائي لکه سورة نمل سـ۸۷ کښې دي او صعق ورته هم ویلے کیږي او دویمه دَ بعث بعد الموت دَپاره ده. او دا دواړه په سورة یٰس کښې سـ۴۹ سـ۵۱ هم ذکر شوي دي۔

سـ۶۹ سـ۷۰ :- په دے کښې دَ ورځ دَ بعث او دَ حساب بعض حالت ذکر کوي۔

بِنُوْرِ رَبِّهَا نور صفت دَ الله تعالیٰ دے لکه چه سورت نور کښې تیر شویدے بغیر دَ تشبیه او تمثیل نه۔ الْكِتٰبُ مراد تربه جنس دے یعنی عملنامے

وَالشُّهَدَآءِ دا تعمیم دے روستو دَ تخصیص نه یعنی انبیاء به دَ شهادت دَپاره حاضر کړیشي نو دارنګ نور شهادت ورکوونکی ملائک مومنان او اندامونه دَ مجرمانو به هم حاضر کړیشي. وَهُوَ اَعْلَمُ تاکید دے دَ وفیت دَپاره یعنی پوره به ورکړیشي چه دَ الله تعالیٰ نه هیڅ خیز نشي پټیدے او دارنګ په دے جمله کښې دفع دَ وهم ده چه الله تعالیٰ حساب کوي او ګواهان پیش کوي نو ایا هغه ناخبره دے نو جواب اوشو په وَهُوَ اَعْلَمُ سره یعنی حساب او پیشي دَ ګواهانو دَپاره دَ الزام دَ حجت ده۔

إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا ط حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوهَا فُتِحَتْ

جهنم طرف ته دلے دلے ترځو پورے چه راشی جهنم ته پرانیستے شی

أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا أَلَمْ يَأْتِكُمْ

دروازے دهغے او اوبه وائی دوی ته څوکیداران دهغے ایا نه دو راغلی تاسو ته

رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِ رَبِّكُمْ

رسولان ستاسو نه چه لوستل ئې په تاسو باندے ایاتونه د رب ستاسو

وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ط قَالُوا

او ویره درکوله تاسو ته د ملاقات د ورځے ستاسو نه چه دا ده دوی به وائی

بَلَىٰ وَلَٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ

هان (ولے نه) لیکن پوره شوه فیصله د عذاب

عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿۷۱﴾ قِيلَ ادْخُلُوا أَبْوَابَ

په کافرانو باندے . او به ویلے شی ورننوځئ دروازو

سلے :- په دے کښی تقسیم دَجزا اوسزا ذکرکوی روستو دَحساب او دَشهادت نه نو په دے ایت کښی تخویف اخروی دے په ذکرکولو دَحال دَمنکرینو سره. زُمَرًا هغه جماعتونو ته ویلے کیږی چه دَهغوی په مینځ کښی تفرقه ښکاره وی. کفر اگرچه ملت واحده دے لیکن په اقسامو دَهغے کښی ډیر فرق دے.
فُتِحَتْ أَبْوَابُهَا سورة حجر سئ کښی تیرشوے دی چه اووه دروازے دی او په دے کښی اشاره ده چه دوی ته دَمخکښی نه دروازے نه پرانیستی دا دَ دوی تذلیل دے. وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا په دے کښی مقصد ملامته کول دَکافرانو دی دا هم لوئے عذاب دے. لِقَاءَ يَوْمِكُمْ یعنی یوم بعثکم او یوم دخولکم النار.
كَلِمَةُ الْعَذَابِ مراد ترینه فیصله ده په تقدیر کښی دَدوی دَکفر او دَعذاب یا هغه کلمه ده چه سورة صٓ سهٰ کښی ذکر شوے ده.
عَلَى الْكَافِرِينَ دَضمیر په ځائے اسم ظاهر ذکرکړو اشاره ده چه علت دَعذاب کفر دَدوی دے.

جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ مَثْوَى

دَ جهنم ته همیشه به یئ په هغه کښې نو ناکاره دے ځائے دَ اوسیدلو

الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿٧٢﴾ وَسِيْقَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا

دَ تکبر کوونکو - او روان به کړیشی (په عزت سره) هغه کسان چه ویره کړیده

رَبَّهُمْ اِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا ۖ حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْهَا

دَ رب خپل نه جنت ته ډلے ډلے ترهغه پورے چه کله راشی هغه ته

وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا

او پرانستلے شوے به وی دروازے دَ هغه او اوبه وائی دوی ته څوکیداران دَ هغه

سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوْهَا خٰلِدِيْنَ ﴿٧٣﴾

سلام دے وی په تاسو پاندے خوشحاله اوسئ تاسو نو داخل شئ (جنت) همیشه به یئ تاسو.

۷۲: روستو دَ الزام دَ حجت نه په دوی باندے حکم دَ دخول جهنم دے لفظ قِيْلَ دَ عموم دَ قائلانو دَپاره دے یعنی الله تعالیٰ او ټول ملائک به داسے اُوائی - خٰلِدِيْنَ په وخت دَ داخلیدلو کښې خلود نشی کیدے نو مراد دَ دے نه اندازه کول او اراده کول دَ خلود دی په دغه وخت کښې - الْمُتَكَبِّرِيْنَ علت دَ عذاب کفر دے او علت دَ تذلیل چه په دے آیاتونو کښې ذکر شو هغه تکبر دَ دوی دے دَ دے وجے نه دا صفت دَ دوی یئ ذکر کړو.

۷۳: دا بشارت اخرویه تفصیلیه دے وَسِيْقَ کښې هم دا لفظ وؤ لیکن هلته سوق دَ ذلت او دَ اهانت وؤ او دلته سوق دَ اکرام او دَ عزت دے او اکثر مفسرینو ویلی دی چه دلته سوق دَ سورلو دَ جنتیانو مراد دے.

زُمَرًا دوی هم مختلف امتونه دی دَ هر رسول جدا جدا امت دے یا مراد ترینه مختلف عملونو والا دی یعنی شهیدان او علماء او دعوت و تبلیغ کوونکی وغیرهم په چا چه کوم صفت غالب وی نو په هغه صفت کښې به روان کړیشی وَفُتِحَتْ واو عطف دے په مقدر (ریبح) باندے او جواب دَ اِذَا یئ ځکه حذف کړے دے چه دلالت اوکړی په عموم باندے (یعنی هر کله چه دوی راشی نو خوشحاله به کړے شی په ډیرو نعمتونو سره) او خاص په نعمت دَ فتح الابواب سره - او دا اشاره ده دَ دوی (پاتے په بل مخ)

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ صَدَقَنَا وَعْدَهٗ

او دوی وائی ستائینه دَ خدائے الله تعالیٰ لره ده هغه ذات دے چه رشتینے کړے دے مونږ سره وعده خپله

وَاَوْرَثَنَا الْاَرْضَ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ

او میراث کښې راکړه مونږ ته زمکه دَ جنت ځائے نیسو مونږ دَ جنت نه

حَیْثُ نَشَآءُ ۚ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ ﴿۷۴﴾

کوم ځائے چه مونږ غواړو نو ښهٔ دے ثواب دَ ښهٔ عمل کوونکو ۔

اکرام او عزت ته چه څنګښ دَ راتللو ته په دروازے کهلاؤ وی لکه سورة ص سنه کښ تیر شویدی او بعض اهل لغت وئیلی دی چه دا واؤ ثمانیه دے یعنی دَ عربو عادت دادے چه دَ اتهٔ عدد په مقام کښ واؤ ذکر کوی ګویا که دَ یو نوعه دَ عدد په سیعه باندے ختم شوه نو نوے عدد دَ اتو نه شروع شو او دروازے دَ جنت اته دی لکه چه احادیث صحیحه سره ثابت شویدی ۔ طِبْتُمْ پاک وئے تاسو په دُنیا کښ دَ توحید او دَ ایمان په عقیدے او په نیک اعمالو سره ۔ یا دا جمله دعائیه ده په شان دَ سلام علیکم ۔

سکے ۔۔ دا هم په بشارت کښ داخل دے او دا عطف دے په پټ لفظ باندے (دخلوها وقالوا) ۔ وَعْدَهٗ او دا وعده ذکر ده په سورة مریم سے ۶۳ کښ ۔

الْاَرْضَ مراد دَ دے نه زمکه دَ جنت ده او میراث ورته په دے وجه وئیلے کیږی چه حاصلیږی بغیر دَ داسے محنت نه چه دَ هغے سره مناسب وی ۔ نَتَبَوَّاُ مِنَ الْجَنَّةِ یعنی دهٔ لره به په جنت کښ دومره وسعت او فراخی ورکړے شی چه په هغے کښ به په ازادئے سره ګرځی دا نه چه دَ بل چا حصے ته به ورځی ۔ حَیْثُ نَشَآءُ په دے صیغه دَ متکلم کښ اشاره ده چه په جنت کښ به هر څوک خالص دَ الله تعالیٰ دَ رضا تابع وی ۔ فَنِعْمَ اَجْرُ الْعٰمِلِیْنَ الف لام په دے کښ عهدی دے یعنی عمل کوونکی په موافق دَ رضا دَ الله تعالیٰ سره" او په صفت ذکر کولو کښ ترغیب دے عمل کولو ته ۔

وَتَرَى الْمَلٰٓئِكَةَ حَآفِّيْنَ مِنْ حَوْلِ

او وینې به ته ملائکې لره کبیره جوړوونکې چاپیره

الْعَرْشِ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ج

د عرش ته تسبیح به وائي سره د ستائینې د رب د دوی ته

وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيْلَ

او فیصله به اوکړیشي په مینځ د دوی کښ په حقه سره او ویلې کیږي به

الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٧٥﴾ ع

چه صفتونه د خدائیتوب د یو الله تعالیٰ دي چه رب د عالمینو دے.

٧٥:- په دے کښ عظمت او هیبت د ورځے د قیامت ذکر کوي مِنْ حَوْلِ الْعَرْشِ حرف د مِنْ کښ اشاره ده چه په ټول عرش باندے ملائک احاطه نشي کولے د وجه د ډیر عظمت د عرش نه. وَقِيْلَ په دے صیغه کښ اشاره ده عموم د قائلینو ته یعني ټول مؤمنان او ملائک به حمد د الله تعالیٰ وائي. اشاره ده چه په جنت کښ لوے تلذذ (رمزه اغستل) ذکر د الله تعالیٰ دے پر تسبیح او حمد ویلو سره. (اللهم اعني على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك)

تفسیر د سورة زمر په حمد د الله تعالیٰ سره ختم شو.

سُورَةُ المُؤمِن ۴۰ مَكِّيَّةٌ ۶۰	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰیَاتُهَا ۸۵ رُکُوْعَاتُهَا ۹

حٰمٓ ۞ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ

الله تعالیٰ ته دی زور اوردے · د · د طرف · نازلول د دے کتاب · الله تعالیٰ د مراد باندے پته پوهیږی ۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المؤمن۔ او د دے بل نوم سورة غافر او بل سورة الطول دے۔

د دے سورت نه تر سورة احقاف پورے اوۀ سورتونه په حوامیمو سره مشهور دی۔ او دا دویم باب دے او د دے په فضیلت کښې ډیر روایات وارد دی۔ د مستدارمی روایت دے چه حوامیم ته عرائس القرآن ویلے شی د انس او ابن مسعود رضی الله عنهما نه قرطبی او خطیب وغیره نقل کړے دی مرفوعًا چه حوامیم دیباج د قرآن دے او بل روایت ئے نقل کړے دے چه د هر خیز ثمره وی او ثمره د قرآن ذوات حٰم دی او بل روایت کښې دی دا باغیچے دی خائسته شنے یو بل سره نژدے پیوست نو څوک چه غواړی چه د جنت په باغیچو کښې او سیږی نو دا سورتونه دِ لولی۔ خازن او خطیب د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړے دے چه د هر خیز مغز (خلاصه) وی او د قرآن مغز حوامیم دی۔ نو که دا روایات صحیح ثابت نه شی نو دلالت په اوکړی په عظمت د دے سورتونو باندے۔

ربط د دے سورت د ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه سورة زمر کښې رد دوۀ په شرک فی العبادة باندے نو په دے سورت کښې رد دے په شرک فی الدعاء باندے چه هغه اهم جز د عبادت دے دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې تخویف دنیوی اجمالی وو او په دے سورت کښې تفصیل د هغے د پاره واقعه د فرعونیانو ذکر کوی۔ دریمه وجه دا ده چه د هغه سورت په اول کښې تعریف او مقصد د قرآن ئے ذکر کړو نو په دے سورت کښې د قرآن عظمت ذکر کوی۔

دعوی د دے سورت۔ رد دے په شرک فی الدعا باندے او اثبات د توحید فی الدعاء دے را وهغه ئے اوۀ کرتہ ذکر کړے په ۱۲ ۱۴ ۲۰ ۴۳ ۶۰

الْعَلِيْمِ ۝ غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ

پوهه دے ۔ بخنه کوؤنکے دَ ګناه دے او قبلوونکے دَ توبے دے

شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا

سخت عذاب ورکوؤنکے دے خاوند دَ طاقت دے نیشته واکدار بیدا

هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ۝ مَا يُجَادِلُ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

دَ هغه نه خاص هغه ته دی ګرځیدل ۔ جګړه نه کوی په آیاتونو دَ الله تعالیٰ کښ

سلا تا ۸۵ کښ او دا په پنځه طریقو سره دے. اول په رد دَ جمیع اقسامو دَ شرک سره دویم په انه عقلی دلیلونو سره دریم په واقعه دَ رجلِ مؤمن سره څلورم په اهلاک دَ فرعونیانو سره په سبب دَ انکار دَ هغوی دَ توحید نه او پنځم په ذکر دَ عظمت دَ دے مسئلے سره۔

خلاصه دَ سورت داده چه دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته. اول باب تر سلا پورے دے. په دے کښ څلور عنوانات دی او دا تمهید دے دَ پاره دَ دعوے دَ سورت او دَ هغے عظمت ذکر کوی اول ترغیب دے لے القرآن په ذکر دَ نهه صفاتو دَ الله تعالیٰ سره دویم عنوان زجر او تخویف دنیوی او اخروی هغه کسانو ته چه په قرآن او په دعوی دَ دے سورت کښ جدال کوی دریم بشارت دے مؤمنانو ته په ذکر دَ دُعاګانو دَ ملائکو سره دَ پاره دَ مؤمن څلورم تخویف اخروی متکرانو ته او سبب دَ عذاب ذکر کوی چه انکار عن التوحید دے۔

(تفسیر)

سلا. دا دَ مقطعاتو نه دے دَ دے بحث مخکښ باربار تیر شوید دے غوره داده چه دا اشاره ده اعجاز دَ قرآن کریم ته دَ دے وجے نه وروستو عظمت دَ قرآن کریم ذکر کوی۔

سلا سلا. په دے کښ ترغیب دے قرآن ته او بیان دَ عظمت دَ هغهٔ دے په ذکر کولو دَ نهه صفاتِ عظیمه دَ نازلوؤنکی چه الله تعالیٰ دے او دا اول عنوان دے دَ څلورو عنواناتو نه چه خلاصه کښ ذکر شویدی. الْعَزِيْزِ کښ اشاره ده صفاتو دَ قدرت ته الْعَلِيْمِ کښ اشاره ده صفاتو دَ علم ته۔ تَنْزِيْلُ مبتدا ده او مِنَ اللّٰهِ خبر دے غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ دا دواړه صفات دَ توحید والو سره تعلق لری. التَّوْبِ جمع دَ توبه ده یا مصدر دے۔ (باقی په بل مخ)

إِلَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَا يَغْرُرْكَ تَقَلُّبُهُمْ

مګر کافران نو دهوکه دې نه کړي تالره ګرځېدل ددوی

فِي الْبِلَادِ ۝۴ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ

په ښارونو کښې ۔ تکذیب کړے وو مخکښې د دوی نه قوم

شَدِيدِ الْعِقَابِ ذِي الطَّوْلِ دا تعلق لري د کافر او مشرک سره ۔ الطَّوْلِ په معنٰی د غنا سره یعنې مستغنی دے د مشرکانو نه او طَوْلِ فضل، انعام او قدرت ته ویلے کیږي.
فائده: ۔ د غافر او قابل په مینځ کښې یې واؤ د جمع ذکر کړے دے اشاره ده چه د مؤمن تائب د پاره یې دوه قسمه رحمتونه جمع کړي دي او د مشرک د پاره یې هر یو تخویف مستقل ذکر کړے دے. لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ دا جمله یې په طور د صفت د الله تعالٰی سره ذکر کړې ده او په منزله د علت ده د ما قبل د پاره د دے وجے نه واؤ یې عاطفه نه دے ذکر کړے. إِلَيْهِ الْمَصِيرُ دا صفت تخویف او بشارت دواړو ته شامل دے قرطبي او خطیب شربیني وغیره واقعه د عمر رضی الله عنه لیکلې ده چه هغه یو شرابي ته خط کښې دا ۳ آیاتونه اولیکل هغه ته چه خط اورسیدلو نو ژړا یې اوکړه او توبه یې اُویستله او عمر رضی الله عنه خلقو ته اُویل چه یو رور مو په لغزش کښې پریوتے وي نو دا سے عمل ورسره کوئ او د توبے او د مغفرت دُعا ورله کوئ او شیطان ته یې مه پریږدئ.

۴ :۔ دا زجر دے مجادلینو ته او دا دویم عنوان دے چه په قرآن او د دے په مقصد کښې چه توحید دے څوک جګړے کوي نو هغه کافر وي ۔ او حدیث مرفوع کښې ذکر دي چه جدال په قرآن کښې کفر دے او بل حدیث کښې روایت دے چه دا جدال سبب د هلاکت د مخکنو خلقو دے ۔ او مراد د جدال نه طعن کول په قرآن کښې چه دا سحر دے شعر دے کهانت دے وغیره او په دے باندے شبهات او اعتراضونه کول دي ۔ او دے ته جدال بالباطل ویلے کیږي او په دے سورت کښې دا په مختلف تعبیراتو سره ذکر دے په ۵ ۳۵ ۵۶ کښې.
او د دے جدال مقصد د حق مقابله کول او هغه ختمول دي او هر چه جدال بالحق دے هغه صفت د صالحینو دے لکه جَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ او مراد د هغې نه شبهات او شکونه د اهل باطل دفع کول او په هغوي باندے الزامي دلیلونه قائمول دي په نرمه طریقه سره او دا خو جهاد في سبیل الله دے.
فَلَا يَغْرُرْكَ الخ په دے کښې جواب د وهم دے که دا مجادلین کافر وے نو په

نُوْحٍ وَّالْاَحْزَابُ مِنْۢ بَعْدِهِمْ ۠ وَهَمَّتْ

دَ نوح علیه السلام او نورو مخالفو ډلو روستو دَ دوی نه او پوخ قصد کړے وؤ

كُلُّ اُمَّةٍۢ بِرَسُوْلِهِمْ لِيَاْخُذُوْهُ وَجٰدَلُوْا

هر امت په پاره دَ رسول خپل کښې دَ پاره دَ دې چه اونیسی هغه (دَ قتل کولو دَ پاره) او جګړه کوله دوی

بِالْبَاطِلِ لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ فَاَخَذْتُهُمْ ۣ قف

په باطل سره دَ پاره دَ دے چه اوتوږوی په دے سره حق لره تو اونیول ما هغوی

فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝۵ وَكَذٰلِكَ حَقَّتْ

نو څه رنګ شو عذاب زما - دغه شان پوره شوه

كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْۤا اَنَّهُمْ

یوه فیصله دَ رب ستا په کافرانو باندے چه دوی

دنیاکښې دَ دوی مزے او مالداری ولے ده جواب اوشو چه دا مزے نه دی بلکه تَقَلُّبُ دے. او باب تفعّل کښې معنیٰ دَ تکلف ده یعنی اګرچه دَ دوی جائیدادونه او تجارتونه او لبنکرے وغیره ډیردی لیکن دا سبب دَ پریشانے او دَ تکلیفونو دے اطمینان ورله نیشته۔

ف:۔ دا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ مجادلینو تیرشوؤ سره او دَ عذاب دَ هغوی سره او دَ هغوی درے مرضونه یئے ذکر کړے دی یو تکذیب او دویم تکلیف ورکول رسولانو ته دریم جدال بالباطل۔

لِيَاْخُذُوْهُ مراد دَ دے نه قید وَل او قتل کول او نور تکلیفونه ورکول دی۔

بِالْبَاطِلِ مراد دَ دے نه شبهاتِ باطله دی چه هیڅ حقیقت یئے نیشته۔

لِيُدْحِضُوْا بِهِ الْحَقَّ دا مقصد دَ جدال دَ دوی دے۔ دَ حَضْ په اصل کښې خوئیدلو ته ویلے کیږی نو مراد ترینه زائله کول او ختمول دَ حق دی۔

أَصْحٰبُ النَّارِ ۝٦ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ

او سیډونکو دَ اُور دی همیشه ـ هغه ملائک چه پورته کوی عرش دَ الله تعالیٰ

وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ

او هغه چه چاپیره دَ هغه نه دی تسبیح وائی سره دَ ستائینے دَ رب دَ دوی نه

وَيُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ

او ایمان راوړی په هغه باندے او بخنه غواړی دَپاره دَ

اٰمَنُوْا ۚ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا

مومنانو (وائی دوی) اے ربه زمونږ راګیلا کړے دے تا هر څیز په رحمت او علم کښ

فَاغْفِرْ لِلَّذِيْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ

نو بخنه اوکړه هغه چاته چه توبه ئے کړے ده دَ شرک نه او تابعداری کړے ده ستا دَ لارے

وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ ۝٧ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ

او بچ اوساته دوی لره دَ عذاب دَ اُور نه ـ اے ربه زمونږ او داخل کړے دوی

ف ۶: په دے کښ تخویف اخروی دے ـ وَكَذٰلِكَ یعنی "څه رنګ چه او نیول مونږ دوی لره په عذاب سره". حَقَّتْ عَلَيْهِمْ لزوم دَ کلمے نه مراد په تقدیر کښ فیصله کول دی یا صدور دَ فیصلے دَ الله تعالیٰ دے په وخت دَ کولو دَ دوی کښ ـ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ النَّارِ دا بیان دَ کلمهٔ دے یا مراد دَ کلمے نه (قول دَ لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ دے) او اِنَّهُمْ کښ بآء سببیه مقدّر دے یعنی په سبب دَ دے چه دوی مستحق دَ اُور دی ـ

ف ۷ ـ ۹: په دے آیاتونو کښ بشارت دے مؤحدینو ته روستو دَ تخویف دَ منکرینو ته او دا دریم عنوان دے او هرکله چه ئے دَ کافرانو دشمنی ذکر کړه دَ مؤمنانو سره نو اوس ذکر کوی دوستانه او شفقت دَ ملائکو په مؤمنانو باندے دَپاره دَ تسلی دَ دوی ـ اَلَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ تخصیص دَ دے ملائکو ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه دوی ډیر مقرب او لوئے شان او قوت والا دی حدیث دَ جابر رضی الله عنه کښ مرفوعًا راغلے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ حملة العرش دَ ملائکو نه دَ یو ملک حال ذکر کړو چه دَ غوږ دَ نرمے نه ئے تر اوګے پورے دَ اووه سوؤ کلونو مزل دے ـ او دَ دے ملائکو صحیح عدد الله تعالیٰ

جَنّٰتِ عَدْنِ ﹰالَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ

جنتونو د ديره کيدلو ته هغه چه تا وعده کړې ده د دوی سره او هغه څوک چه جوړ دی (د دوی سره)

مِنْ اٰبَآئِهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّیّٰتِهِمْ ط

د پلارانو د دوی نه او د بيبيانو د دوی نه او د اولاد د دوی نه

اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ﴿۸﴾ وَقِهِمُ السَّیِّاٰتِ ط

يقيناً ته زور اور حکمتونو والا يې - او بچ ساته دوی لره د ناکاره عقوبتونو نه

وَمَنْ تَقِ السَّیِّاٰتِ یَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ط

او هغه څوک چه تا بچ ساتل د ناکاره عقوبتونو نه په دې ورځ تو يقيناً رحم اوکړو تا په هغه باندې

نه معلوم دې ځکه چه په دې کښې صحيح حديث مرفوع نيشته. يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ دا ذکر د عبادت او د طاعت د ملائکو دې. وَيُؤْمِنُوْنَ بِه دا علت دې د پاره د تسبيح او حمد او په نه مراد د الله تعالیٰ توحيد دې وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اشاره ده چه دوی خيرخواه د مؤمنانو دی نو معلومه شوه چه اشتراک په عقيده د توحيد کښې سبب د محبت او د نصيحت (خيرخواهۍ) دې او په دې کښې ترغيب دې ايمان راوړلو ته رَبَّنَا دا ذکر د دُعا د مغفرت دې او لفظ د رَبَّنَا وسيله ده د نوم د الله تعالیٰ په عامو دُعاګانو کښې اشاره ده چه يا الله ته زمونږ مُربّي او محسن يې نو په مونږ باندې احسان د اجابت د دُعا اوکړې وَسِعْتَ كُلَّ شَيْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا دا هم وسيله ده په دوه صفتونو د الله تعالیٰ سره ځکه چه د اجابت د دُعا د پاره رحمت عظيمه او علم په حالاتو د دُعا کوونکي باندې ضروري دې په اصل کښې فاعل د وسعت رحمت او علم دې ليکن دلته کښې فاعل يې الله تعالیٰ اوګرځوو او رحمت او علم يې په طريقه د تميز سره ذکر کړو اشاره ده چه الله تعالیٰ په توسيع د رحمت او د علم کښې بې اختياره نه دې او دا رنګ اشاره ده په تميز بعد الابهام کښې تاکيد او مبالغه د دې دواړه صفتونو ته. وَاتَّبَعُوْا سَبِيْلَكَ په تَابُوْا کښې اشاره ده عقيدې د توحيد او اجتناب عن الشرک ته او په وَاتَّبَعُوْا کښې اشاره ده عمل صالح ته. وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِيْمِ په دې کښې اشاره ده مغفرت کامله ته يعنې داسې مغفرت ورته اوکړې چه د عذاب هيڅ استحقاق په کښې پاتې نه شي. رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ هرکله چه مخکښې يې ازاله د عذاب ذکر کړه نو اوس دُعا د ثواب کامله ذکر کوي. وَمَنْ صَلَحَ الاية يعنې چا چه د مؤحد (پاتې په بل مخ)

وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

او دا کامیابی لویه ده یقینًا هغه کسان

كَفَرُوْا يُنَادَوْنَ لَمَقْتُ اللّٰهِ اَكْبَرُ مِنْ مَّقْتِكُمْ

چه کفر ئې کړے دے آواز به ورکیدے شي دوی ته (د قیامت په ورځ) چه خامخا غصه د الله تعالیٰ ډیره ده د غصے ستاسو ته

اَنْفُسَكُمْ اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ

تن په خانونو ستاسو باندے کله چه بلل کیدلے به تاسو ایمان ته

سره په توحید کښې موافقت کړیدے پلار، ښځے اولاد اګرچه عبادت ئې د دغه کس پشان نه ده کړے لیکن دوی لره به د هغه د پوره خوشحاله کولو د پاره جنت ته داخل کړے شي او دارنګ سورة رعد ۲۳ کښې تیر شویدی. وَقِهِمُ السَّيِّئَاتِ مراد تری نه عذاب د ګناهونو د هغوی دے نو سوال دادے چه دا خو تکرار دے ځکه چه مخکښې هم وقهم عذاب الجحيم ذکر شویدے جواب دادے چه دلته ضمير آباء او ازواج او ذريات ته راجع دے او مخکښې ضمير اصل موٴحدانو ته راجع وو. یا مراد وقایه د سیئات نه په دنیا کښې بچ ساتل دی د ګناهونو نه.

يَوْمَئِذٍ په اوله معنیٰ ورځ د قیامت او په دویمه معنیٰ دنیا مراد ده.

د مطرف قول دے چه ډیر خیرخواه په بندګانو د الله تعالیٰ کښې د بندګانو د پاره ملائک دی په سبب د دے آیاتونو او بدخواه په مخلوق کښې د مخلوق د پاره شیطان دے. او دارنګ په دے آیاتونو کښې د موٴمنانو د پاره ډیر لوئې بشارت دے چه کله یو ملک دعا او غواړی نو مستجاب ده نو چه ټول ملائک غواړی نو هغه خو ضرور قبلوی.

او خلف بن هشام وئیلی دی چه ما په سلیم بن عیسیٰ باندے قرآن لوستلو چه دے آیت ته راورسیدم نو هغه اوژړل او وئې ویل چه اے خلفه موٴمن د الله تعالیٰ په نیز څومره ګران دے چه دے په بستره باندے اوده پروت وی او ملائک ورله مغفرت غواړی دا قرطبی روایت راوړے دے.

تَكْفُرُوْنَ ⑩ قَالُوْا رَبَّنَآ اَمَتَّنَا اثْنَتَيْنِ

تو تاسو به کفر کوۀ - دوی به اُوائی اے ربه زمونږ مرګ راوستلے تاپه موتږ یائلے دوه کرته

وَاَحْيَيْتَنَا اثْنَتَيْنِ فَاعْتَرَفْنَا بِذُنُوْبِنَا

او ژوندی دې داکړیاے دوه کرته نو اقرارکوو مونږ په ګنا هونو خپلو یائلے

فَهَلْ اِلٰى خُرُوْجٍ مِّنْ سَبِيْلٍ ⑪

نو ایا شته دے وتلو ته څه لار -

سلہ :- دا تخویف شدید دے کافرانو مجادلینو ته روستو دَ عظمت شان دَ مؤمنانو ته او دا څلورم عنوان دے - يُنَادَوْنَ آواز به ورکیدلے شي دَ قیامت په ورځ او دوی به په جهنم کښ وی او ځان ته به ډیر غصه وی - لَمَقْتُ اللهِ لام ئې ابتدائیه دَ دے وجے نه ذکر کړو چه ینادون کښ معنیٰ دَ قول پرته ده او دَ مقوله په سر کښ لام ابتدائیه داخلیدے شي - مِنْ مَّقْتِكُمْ اَنْفُسَكُمْ او دا غصه دَ دوی په قیامت او په جهنم کښ ده اِذْ تُدْعَوْنَ اِلَى الْاِيْمَانِ دا متعلق دے په لمقت الله پورے یعنی دَ الله تعالیٰ غصه په تاسو باندے په دنیا کښ وه چه کله به تاسو ته دعوت او تبلیغ دَ ایمان کیدلے شو او تاسو به انکار کوۀ، او دا غصه دَ الله تعالیٰ ستاسو دَ دے غصے نه ډیره لویه ده یعنی تاسو الله تعالیٰ لره ډیر غصه کړے اوخفه کړے دے په انکار کولو ستاسو دَ توحید نه او س به ستاسو څه غصه وی؟

فائده :- مقت سخت غضب او بغض ته ویلے کیږی او دا صفت دَ الله تعالیٰ دے څه رنګ چه دَ هغه دَ شان سره خائیږی تاویل ته هیڅ ضرورت نیشته.

سلہ :- دا جواب دَ هغوی دے په طریقه دَ اقرار جرم سره دَ دے دَ پاره چه دَ جهنم نه اوځی او دُنیا ته واپس لاړشی هاں پدے ایت کښ دَ ډیر هیبت دَ عذاب دَ وجے نه دُنیائی هیره شویده نو هغه ته دَ واپس کیدلو ذکر نه کوی او په بل حالت کښ دوی وائی هل الی مرد من سبیل شوریٰ ۴۴ فارجعنا نعمل صالحا سورة السجده ۱۲ یا لیتنا نرد انعام ۲۷ اخرجنا نعمل صالحا فاطر ۳۷

فائده :- په دے ایت کښ دوه مرګونه او دوه ژوندونه ئې ذکر کړے دی لکه چه سورة بقره ۲۸ کښ ذکر دو - په دے کښ اول قول دا دے چه دَ اول مرګ نه مراد وجود دَ دوی وۀ په شکل دَ نطفے سره په ریاګ په بل مخ)

ذٰلِكُمْ بِاَنَّهٗۤ اِذَا دُعِیَ اللّٰهُ وَحْدَهٗ كَفَرْتُمْ ۚ

دا ځکه چه کله به بللے کیدے شو الله تعالیٰ په یو والی سره نو تاسو به انکار کوؤ

وَاِنْ یُّشْرَكْ بِهٖ تُؤْمِنُوْا ؕ فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ

او که چرے شرک به کیدے شو د هغه سره نو تاسو به ایمان راوړو نو اختیار د یو الله تعالیٰ دے

الْعَلِیِّ الْكَبِیْرِ ﴿۱۲﴾ هُوَ الَّذِیْ یُرِیْكُمْ

چه اوچت دے او لوے دے . خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ښائی تاسو ته

ارحامو دَ مائیندو کښ اودَ دوېم مرګ نه مراد مشهور مرګ دے او دَ اول حیات نه مراد روح اچول دی په بدن کښ په ارحامو دَ مائیندو کښ او بیا دنیا ته بهر راوتل او دوېم ژوند روح اچول دی په دغه بدن کښ په ورځ دَ قیامت او هغه ته بعث بعد الموت ویلے کیږی او دا سے ترتیب په سورة مؤمنون دَ ۱۲ نه تر ۱۶ پورے ذکر کړے دے. په دے قول کښ په نطفه باندے دَ میت اطلاق په طریقه دَ تشبیه یا مجاز سره شوے دے او دا قول دَ ابن عباس او ابن مسعود او قتاده او ضحاك نه مفسرینو نقل کړے دے او دا غوره دے په دے کښ دَ قبر دَ حیات ذکر نه دے شوے ځکه چه هغه حیات حقیقیه نه دے. دوېم قول دا دے چه اول مرګ مشهور مراد دے او اول حیات په قبرو کښ مراد دے بیا دوېم مرګ په قبر کښ او دوېم حیات په آخرت کښ مراد دے لیکن په دے قول باندے اشکال دا دے چه اول ژوند چه د تیوی او حقیقی ژوند دے دَ هغه ذکر پریښودل او حکمی ژوند ذکر کول بعیده خبره ده دوېم دا چه په دے توجیه باندے درے حیاته معلومیږی دریم دا ده چه په قبر کښ دَ حیات نه روستو بیا مرګیدلو دَپاره دلیل صریح صحیح نیشته.

۱۲: ذٰلِكُمْ کښ اشاره ده پټ عبارت ته یعنی (لیس الی خروج من سبیل) او دَ دے علت ذکر کوی چه انکار عن التوحید دے. وَحْدَهٗ مصدر مضاف دے په موضع دَ حال کښ دے یعنی متوحدًا و منفردًا یا منصوب دے په ظرفیت سره یعنی علی وحدته. وَاِنْ یُّشْرَكْ په دا مضارع په معنیٰ دَ ماضی ده عطف دے په دعیٰ باندے یا مراد دا دے چه روستو دَ واپس کیدلو نه دنیا ته (بالفرض) که چرے شرک کیدے شی نو تاسو به بیا هم منئ نو دا پښتان دَ "لَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا لِمَا نُهُوْا عَنْهُ" (انعام ۲۸) دے. فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ دا جمله هم علت دے چه تا

اٰيٰتِهٖ وَيُنَزِّلُ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ رِزْقًا ؕ

دلیلونه او رالیږی تاسو لره دَ اسمان نه روزی

وَمَا يَتَذَكَّرُ اِلَّا مَنْ يُّنِيْبُ ﴿۱۳﴾

او نصیحت نه قبلوی مګر هغه څوک چه ورګرځی الله تعالیٰ ته۔

فَادْعُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ وَلَوْ كَرِهَ

نو حاجتونه غواړئ دَ الله تعالیٰ نه خالص کوونکی یئ هغه دپاره بلنه کول اګرچه بد ګڼړی

الْكٰفِرُوْنَ ﴿۱۴﴾ رَفِيْعُ الدَّرَجٰتِ ذُو الْعَرْشِ ۚ

کافران۔ (الله تعالیٰ) اوچتوونکے دَ درجو دے عرش والا دے

نیشته دَ دے وجے نه چه اختیار دَ الله تعالیٰ دے او رد دے په مشرکانو باندے هغوی عقیده لره چه زمونږ شفعاؤ ته اختیار دے مونږ به بچ کوی دَ تکلیف نه په دُنیا او اٰخرت کښ۔

سـ۱۳:۔ دا دلیل عقلی دَ توحید دے او علّت دے دَپاره دَ دے چه فَالْحُكْمُ لِلّٰهِ او دفع دَ عذر دَ مشرکانو ده په اظهار دَ دلیلونو سره په دُنیا کښ۔ اٰيٰتِهٖ مراد دَ دے عقلی دلیلونه په محسوساتو دَ دنیا سره اسمانونه، زمکے، غرونه، نمر، سپوږمے، ستوری، هوا ګانے، وریځے، بارانونه، اونے او بوټی وغیره دی۔ رِزْقًا مراد ترینه سبب دَ رزق دے یعنی باران۔ اٰيٰتِهٖ کښ اصلاح او قوام دَ دین ته اشاره ده او رِزْقًا کښ اصلاح او قوام دَ بدن ته اشاره ده۔ وَمَا يَتَذَكَّرُ یعنی تذکر په طریقه دَ توحید سره موقوف دے په طلب دَ حق باندے۔

سـ۱۴:۔ دَ دے ایت نه تر سـ۵۰ پورے دویم باب دے په دے کښ دعوىٰ دَ سورت ده او عظمت دَ هغه دعوے دے په ذکر دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ سره دَ تخویف اخروی او دنیوی نه دَپاره دَ منکرینو دَ دغه دعوے تر سـ۲۲ پورے بیا مثال دَ تخویف په واقعه دَ فرعون سره او تشجیع په تبلیغ دَ توحید باندے په مکالمه دَ رجلِ مؤمن سره او په اٰخر کښ تخویف اخروی په ذکر دَ براءت دَ متبوعینو دَ اتباعو خپلو نه په شرک او کفر کښ۔

په دے (سـ۱۴) کښ دعوىٰ دَ سورت ده یعنی امر په توحید فی الدعاء او رد دَ شرک فی الدعا او فاء دَ دے وجے نه راوړے چه دا تفریع ده په تیر شوے عنوانانو باندے۔ مُخْلِصِيْنَ لَهُ اخلاص براءت دے ریاء نه په بل ځ)

يُلْقِى الرُّوحَ مِنْ أَمْرِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ

راغورځوى	وحى	په	حكم	خپل سره	په	هغه چاچه	اوغواړى

مِنْ عِبَادِهٖ لِيُنْذِرَ يَوْمَ التَّلَاقِ ﴿۱۵﴾

دَ	بندګانو	خپلو نه	دے دپاره	چه ويره وركړى دَورځ	دَ ملاقاتونو	نه

دَ هر قسم شرک جلى اوخفى اودَ تشبيه نه . الدِّيْنَ دلته مراد دعا ده . وَلَوْكَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ اشاره ده چه څوك توحيد في الدعا بيانَوى نو هغه كافروى اودا رنګ اشاره ده چه په دے مسئله كښ به دَ منكرينو دَطرف نه هر قسم مصيبتونه راځى چه په هغے باندے صبر كول ضرورى دى .

۱۵ . په دے كښ درے صفات دَالله تعالىٰ ذكركوى دَپاره دَ ترغيب دَ توحيد في الدعاء اودا عظمت دَ دعوے دے . يعنى په الله تعالىٰ پورے دُعا او مدد خاص كړئ دَدے وجے نه چه دَ هغه دَپاره صفاتِ عاليه دى .

رَفِيْعُ الدَّرَجَاتِ په معنى دَ مرتفع دے يعنى حق دار دَ اوچتو درجو دَمدح او دَ ثنا دے ياپه معنى دَرافع دے يعنى اوچتوونكے دَ درجاتو دَمؤحدينو دے په اٰخرت كښ او اوچتوى درجے دَ بعض خلقو په بعضو باندے په دنيا كښ لكه چه فرمائيلى دى " يرفع الله الذين اٰمنوا منكم والذين اوتوا العلم درجات اورفع بعضكم فوق بعض درجات ". ذُوالْعَرْشِ يعنى خالق اومالک دَعرش دے او محتاج نه دے عرش ته . يُلْقِى الرُّوْحَ مراد دے نه وحى ده ځكه چه په هغے سره حياتِ ابدى حاصليږى او عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ نه مراد انبياء عليهم السلام دى او فعل مضارع دَپاره دَ حكايت دَ حال ماضيه دے يعنى وحى يے رالېږلے ده په انبياء عليهم السلام اوپه دے نبى صلى الله عليه وسلم باندے يا مراد دَ روح نه قراٰن دے نومراد دَعباده نه په دے امت كښ هغه خلق دى چه هغوى ته الله تعالىٰ علوم دَقراٰن كريم اوتوفيق دَ عمل وركړے وى .

لِيُنْذِرَ داغاية اومقصد دَ القا دَ روح دے يعنى مراد دَ دے نه دعوت او تبليغ دے . يَوْمَ التَّلَاقِ په اصل كښ التلاقى دے (ملاقاتونه دَيو بل سره) اودا نوم دَ ورځ دَقيامت دے ځكه چه ملاقات (يوځائے كيدل) دَروح اوشى دَ بدن سره او ملاقات دَ هرچا په اوشى دَخپلے جزاء دَ اعمالو سره او ملاقات په اوشى دَ عابدانو اومعبودانو او ظالمانو اومظلومانو او دَ اسمان والو اودَ زمكے والو اودَ اوليتو اودَ اٰخرينو دَ لفظ دے تولو ته عام او شامل دے .

يَوْمَ هُمْ بٰرِزُوْنَ ۚ لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ
هغه ورځ چه دوی به ښکاره وی ته دے پټ
په الله تعالٰی باندے د دوی نه
شَيْءٌ ؕ لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ؕ لِلّٰهِ الْوَاحِدِ
هيڅ څيز د چا ده بادشاهي نن - د الله تعالٰی ده چه يو دے
الْقَهَّارِ ⑯ اَلْيَوْمَ تُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍ
زورآور دے . نن به بدله ورکيدے شي هر نفس ته
بِمَا كَسَبَتْ ؕ لَا ظُلْمَ الْيَوْمَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ
د هغه عمل چه هغه کړے وی زياتے نيشته نن يقينًا الله تعالٰی زر
الْحِسَابِ ⑰ وَاَنْذِرْهُمْ يَوْمَ الْاٰزِفَةِ
حساب کونکے دے - او ويره ورکړه دوی ته د ورځ د نژدے آفت ته

١٦ :- په دے کښې هيبت شان د ورځ د قيامت او د الله تعالٰی څلور صفتونه ذکر کوی اول علم کلی په دے لفظ سره لَا يَخْفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ دويم پوره بادشاهي او اختيار په سوال وجواب سره لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلّٰهِ دريم او څلورم الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ بٰرِزُوْنَ د قبرونو نه راوتل او په داګه کيدل چه هيڅ پرده به نه وی او حالتونه ښکاره کيدل دے ټولو ته شامل دے . لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ تخصيص د اليوم ئې د دے وجے نه اوکړو چه په دغه ورځ به ټول بادشاهان او د هغوی بادشاهي او ټول متکبرين او د هغوی دعوے په ختم شي سوا د الله تعالٰی نه . په دے سوال وجواب کښې اقوال دی اول قول دا دے چه الله تعالٰی به يو منادی (ملک) ته امر اوکړی نو هغه به دا آواز اوکړی نو ټول مؤمنان او کافران به دا جواب ورکړی او دا قول د ابن مسعود رضی الله عنه دے - دويم قول دا دے چه سوال او جواب دواړه د الله تعالٰی د طرف نه دی - دريم قول دا دے چه ملائک به يو بل ته دا سوال او جواب کوی او انسانانو ته به ئې آوروی.

١٧ :- دا نور احوال د ورځ د قيامت ذکر کوی - او تفريع ده په څلورو صفتونو د الله تعالٰی باندے . يعنی هرکله چه ثابته شوه چه عالِم دے په هر څه باندے او بادشاه دے د هر څه نو معلومه شوه چه جزا سزا ورکول بغير د ظلم نه او حساب کول دا هم ثابت دی - اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ . (ړانے په يل مخ)

إِذِ الْقُلُوبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ كَاظِمِينَ ۚ

کله چه زړونه به د غنو مرو سره وی ډک به وی غم نه

مَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ حَمِيمٍ وَلَا شَفِيعٍ يُطَاعُ ﴿١٨﴾

نه به وی ظالمانو لره هیڅ دوست ګرم او نه سفارشی چه د هغه خبره منلے کیدیشی.

يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ ﴿١٩﴾

پوهه دے الله تعالی په پټې نقصان د سترګو بانندے او هغه چه پټوی یې سینے.

د ګوچ نه د اسبابو د حساب کولو نه محتاج نه دے او حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما سره ثابت ده چه د وخت د نصف النهار (د دنیوی ورځ د نیم) پورے به پتول حساب ختم کړی.

ف ۱۸ :- دا تو رهیبت شان د قیامت ذکر کوی په خلورو طریقو سره. اول دا چه اٰزِفَةِ ده یعنی نژدے راتلونکے حادثه او مصیبت دے او دا ئے په سورة نجم ۵۷ کښ هم راغلی دی دویم اِذِ الْقُلُوْبُ لَدَى الْحَنَاجِرِ دا کنایه ده ډیرو غمونو نه لکه سورة احزاب کښ وبلغت القلوب الحناجر یا په حقیقت باندے حمل دے چه د ډیر هیبت د وجے نه زړونه به د ځپل ځایونو نه زائل شی او اوچت به شی مرو ته - دریم کَاظِمِيْنَ د رعب او غم نه به ډک دی ګویا که زګونه د ساه اخستلو ئے بند شوے دی خلورم حال مَا لِلظَّالِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ، حمیم هغه دوست ته ویلے کیږی چه د دوست د تکلیف په وخت کښ په ده باندے ګرموالے او خوږیدل راځی - یعنی ګرم دوست او مراد ترینه نفع ورکول دی ځکه حمیم په وینې لکه سورة معارج ۱۰-۱۱ لیکن نفع به نشی ورکولے وَلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ دلته نفی د قید او مقید د دواړو ده یعنی سفارشی نیشته نو خبره به ئے څه رنګ او منلے شی او دا ایت په باره د مشرکانو او کافرانو کښ دے د نورو ګناهګارانو مؤمنانو د پاره سفارش کیدے شی او فائده به رسوی.

ف ۱۹ :- دا متعلق دے د سریع الحساب سره چه حساب کولے شی او د هر عمل حساب به کوی اګرچه پټ عملونه دی یا متعلق دے د ف ۱۵ سره یعنی نور صفتونه د الله تعالی ذکر کوی د پاره د اثبات د توحید فی الدعا. خَآئِنَةَ الْاَعْيُنِ خائنة په معنی د خصلت ذات خیانة - او اضافت ئے په من یا په لام سره دے یعنی هغه خصلت د نقصان او خیانت چه سترګو نه صادر یږی یا خائنة مصدر دے په

وَاللّٰهُ يَقْضِيْ بِالْحَقِّ ۗ وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

او الله تعالی پوره ورکوی حق لره او هغه کسان چه دوی ترینه حاجتونه غواړی

مِنْ دُوْنِهٖ لَا يَقْضُوْنَ بِشَيْءٍ ۗ اِنَّ اللّٰهَ

سوا د الله تعالی نه نشي پوره کولے هیڅ څیز یقیناً الله تعالی

هُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴿۲۰﴾ اَوَلَمْ يَسِيْرُوْا

هر څه اوری هر څه وینی۔ آیا دوی نه گرځی

فِي الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ

په ملک کښی نو چه اوگوری چه څه رنگ دے انجام

الَّذِيْنَ كَانُوْا مِنْ قَبْلِهِمْ ۗ كَانُوْا هُمْ

د هغه کسانو چه وو دوی نه مخکښی وو هغوی ډیر

اَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَّاٰثَارًا فِي الْاَرْضِ

سخت د دوی نه په قوت کښی او ډیرو نښو والا وو په ملک کښی

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ۗ وَمَا كَانَ

نو اونیول هغوی لره الله تعالی په سبب د گناهونو د هغوی او نیشته

معنیٰ د خیانت یا اضافت د صفت دے موصوف ته یعنی الاعین الخائنة۔ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه یو سړے د یو قوم سره په مجلس کښی ناست وی او پردئ زنانه ورتیریږی او دے هغه زنانه ته په داسے طریقه سره نظر اوکړی چه ملگری ورباندے پوهه نه شی دے ته خائنة الاعین ویلے کیږی. خائنة الاعین پټ عمل دے د اندامونو۔ او مَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ پټ عمل د زړونو دے ۲۰۔ دا هم صفت د الله تعالی دے د پاره د توحید۔ يَقْضِيْ قضا فیصلے کول او حاجات پوره کول دواړو ته عام دے وَالَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ دا رد دے په شرک فی الدعاء باندے یعنی سوا د الله تعالی نه نور معبودان هیڅ حاجت نشی پوره کولے نو معلومه شوه چه د هغوی نه حاجتونه غوښتل او حاجت روا گنړل بے فائدے کار او ظلم دے۔

لَهُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ وَّاقٍ ﴿٢١﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

دوی لره دَ الله تعالیٰ نه هیڅ بچ کوونکے . دا په دے وجه چه یقیناً

كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَكَفَرُوْا

راتلل په دوی ته رسولان په ښکاره حکمونو نو دوی بے انکار کوو

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّهٗ قَوِيٌّ شَدِيْدُ

نو اونیول دوی لره الله تعالیٰ یقیناً الله تعالیٰ قوت والا دے سخت

الْعِقَابِ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا مُوْسٰى بِاٰيٰتِنَا

عذاب ورکوونکے دے . او یقیناً لیږلے وو مونږ موسیٰ علیه السّلام په معجزاتو زمونږ سره

وَسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٣﴾ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ

او دلیل ښکاره فرعون ته او هامان

۲۱ :- دا متعلق دے دَ ۵ سره او تخویف دنیوی دے منکرینو دَ دعوے توحید ته او دَ "والذین یدعون من دونه لا یقضون بشیٔ" دَ پاره دلیل دے چه تیر شوی مشرکان هلاک کړے شویدی او دَ هغوی معبودانو هغوی لره هیڅ نه کړل وماکان لهم من الله من واق لکه چه دَ هغوی ظاهری قوتونو هم عذاب نه شو دفع کولے . اٰثارًا فی الارض دَ هغوی دَ مکانو نو چتو نو او دیوالونه دروازے منارے تر اوسه پورے موجود دی لکه دَ ثمودیانو کهنډرات .

۲۲ :- دا تفصیل دَ بذنوبهم دے یعنی لوئے گناه دَ دوی په گناهونو کښ انکار وو دَ رسولانو نه او دَ هغوی دَ بیِّنٰتو نه په توحید باندے .

فائده :- تیر شوی ایت کښ ذکر دَ عذاب اهم وو نو اخذ ئے مخکښ ذکر کړو او سبب دَ هغے ئے روستو راوړو . او په دے ایت کښ ذکر دَ سبب اهم وو نو سبب ئے مخکښ ذکر کړو او اخذ ئے روستو ذکر کړو .

۲۳ :- دا دَ تخویف دنیوی مثال پیش کوی او دَ اَشَدَّ قُوَّةً نمونه ده . بِاٰیٰتِنَا سوره اسراء ۱۰۱ کښ نهه عدد ئے ذکر کړے دے او تفصیل ئے سورة اعراف کښ تیر شویدے . وسلطٰن مبین مراد تری نه عصا ده تو تخصیص بعد التعمیم دے یا مراد تری نه هغه رعب او هیبت دے په زړه دَ فرعون باندے دَ موسیٰ علیه السّلام نه چه سره دَ ډیر قوت او ظلم نه بیا هم موسیٰ علیه السّلام لره نشی قتل کولے .

وَقَارُوْنَ فَقَالُوْا سٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴿۲۴﴾ فَلَمَّا

او قارون ته نو دوی اُویل چه دا جادوګر ډیر دروغژن دے . نو هر کله چه

جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ مِنْ عِنْدِنَا قَالُوا اقْتُلُوْٓا

راوړو دوی ته حق زموږ د نیز نه نو دوی اُویل قتل کوئ

اَبْنَآءَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ وَاسْتَحْيُوْا

ځامن د هغه چا چه ایمان ئې راوړے وؤ ددهٔ په ملګرتیا کښ او جیا وا خلئ

نِسَآءَهُمْ ۭ وَمَا كَيْدُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ ﴿۲۵﴾

د زنانو د دوی نه او نه دے چل ول د کافرانو مګر په بربادئ کښ دے.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُوْنِيْٓ اَقْتُلْ مُوْسٰى

او اُویل فرعون پریږدئ ما لره چه قتل کړم موسیٰ علیه السّلام لره

س۲۴ ،. ددے دریو کسانو خاص ذکر ئې اوکړو ځکه چه د موسیٰ علیه السّلام سره د
دُشمنئ سبب د فرعون بادشاهي او د هامان وزارت او د قارون سرمایه داري وه او
دا درے قوّتونه اکثر د حق په مقابله کښ اودریګی.

(سوال) قارون خو اول وخت دا قول نه دے کړے نو څه رنګ ئې فقالوا کښ دے
هم داخل کړو ؟ جواب دا دے چه اول سر نه ددهٔ دا قول باطنی وؤ اګرچه په ظاهر
کښ ایمان راوړے وؤ او په روستو وخت کښ ئې دا قول ظاهرًا او عملًا شو. سَاحِرٌ
معجزات د هغه ئې په سحر باندے حمل کړل کَذَّابٌ مسائل د توحید او وحی ئې
دروغژن اوګڼړل.
س۲۵ ،. دا امر د قتل ددے د پاره دے چه خلق ددهٔ سره ملګرتیا اونکړی په دهٔ باندے
ایمان رانوړی او د دے نه مخکښ امر د قتل ددے د پاره وؤ چه موسیٰ علیه السّلام
پیدا نشی او ددے قتل ذکر سورة اعراف س۱۲۷ کښ دے او د اول قتل ذکر سورة
بقره س۴۹ کښ دے وما کیدُ الکافرین اه دا جواب د سوال دے چه فرعونیانو
د قتل کولو منصوبے جوړے کړے ایا په ډیره خلق د ایمان قبلولو نه بند شول ؟
جواب اوشو چه د کافرانو منصوبے او چلونه د حق نه په رکاوټ جوړولو کښ
همیشه برباد وی.

وَلْيَدْعُ رَبَّهُ ۚ إِنِّيْٓ أَخَافُ أَنْ يُّبَدِّلَ دِيْنَكُمْ

او ... دې اوغواړي د رب خپل ته يقيناً زه ويريږم چه بدل به کړي ستاسو دين

أَوْ أَنْ يُّظْهِرَ فِي الْأَرْضِ الْفَسَادَ ﴿۲۶﴾

يا به ښکاره کړي په ملک کښ فساد کول.

۲۶: هرکله چه دغه منصوبے هيڅ فائده اونکړله نو فرعون بله منصوبه جوړه کړه چه موسیٰ عليه السّلام قتل کړي. ذَرُوْنِيْٓ دا ئې د دے وجے نه اوئيل چه د هغه په قوم کښ دا سے کسان وو چه فرعون ته ئې مشوره ورکوله چه موسیٰ مه قتل کوه د هغے يو وجه داده چه بعض کسانو په زړونو کښ محبت د موسیٰ عليه السّلام وؤ لکه چه ښځے د فرعون ويلے وو (سورة قصص ۹ کښ) نو شايد چه هغے ورته بيا هم ويلے دی چه دے مه قتلوه دويمه وجه داده چه بعض کسانو ورته اوئيل چه دا کمزورے سړے دے او که تا قتل کړو نو خلق به گمان اوکړي چه فرعون دَ دهٔ دَ مقابلے نه عاجز وؤ نو ځکه ئې قتل کړو. دريمه وجه داده چه په ملک کښ هميشه دا سے اُمراء وي چه هغوی بادشاه لره په يو حادثه کښ مشغولول غواړي دَ پاره دَ دے چه دوی ترينه خلاص وي نو د غسے دَ فرعون په اُمراؤ کښ وو چه فرعون ئې دَ موسیٰ عليه السّلام په مقابله کښ مشغولول غوختل چه موږ ترينه بچ يو. يا سبب دَ دے هغه رعب دَ موسیٰ عليه السّلام دے په فرعون باندے نو چا منع کړے نه دے ليکن هسے وائي چه ما پريږدئ چه دے قتل کړم. وَلْيَدْعُ رَبَّهُ دا هم وهم دَ خلقو دفع کوی چه دَ موسیٰ دَ خيږ کولو نه زهٔ نه ويريږم او تاسو هم مه ويريږئ. إِنِّيْٓ أَخَافُ، فرعون ذکر کوی سبب دَ قتل دَ موسیٰ عليه السّلام ځکه چه يو دَ دوؤ خطرونه شته چه يا به ئې ستاسو عقيدے او دين خراب کړي او يا به کم از کم ډله خپله جوړه کړي نو په وطن کښ به جنګونه او فساد جوړ کړي نو اول فساد دَ دين دے او دويم فساد دَ دنيا دے او فساد دَ دين ئې مخکښ ذکر کړو ځکه چه عام خلق په خپل دين باندے زړه حق وی او که باطل وی) ډير غيرت کوی په نسبت دَ مالونو او دَ دنيا، او دليل دے چه باطل پرستو خلقو مليانو پيرانو اقتدار والا خپل عوامو لره دَ دين (باطل) په نوم باندے دهوکه ورکوی او دا رنګ معلومه شوه چه حق پرستو ته جاهلانو خلقو هميشه دَ اشرارو دَ مفسدينو نوم کيخودلے دے.

وَقَالَ مُوْسٰٓى اِنِّىْ عُذْتُ بِرَبِّىْ وَرَبِّكُمْ

او اُویل موسٰی علیه السّلام یقینًا ما پناه غوښتلې ده په رب زما او په رب ستاسو

مِّنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ ﴿۲۷﴾

دَ هر متکبر نه چه ایمان نه لری په ورځ دَ حساب.

وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ۖ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ

او اُویل یو سړی مؤمن دَ کورنۍ دَ فرعون نه دۀ

يَكْتُمُ اِيْمَانَهٗٓ اَتَقْتُلُوْنَ رَجُلًا

پټوۀ دۀ ایمان خپل آیا قتل کوئ تاسو سړے

اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّىَ اللّٰهُ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

چه اوبه وائی رب زما الله تعالیٰ دے او یقینًا راغلے دے تاسو ته په ښکاره حکمونو سره

مِنْ رَّبِّكُمْ ۗ وَاِنْ يَّكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهٗ ۚ

ستاسو دَ رب دَ طرف نه او که چرے دے دروغژن وی نو په ده باندې گوزار دَ دروغو دَ دۀ

وَاِنْ يَّكُ صَادِقًا يُّصِبْكُمْ بَعْضُ الَّذِىْ

او که چرے رښتنے وی دے نو اوبه رسی تاسو ته بعض دَ هغه عذاب نه

ف ۲۷:۔ موسٰی علیه السّلام دَ خپل توکل علی الله او دَ عدم خوف په بهادرے سره اظهار کوی چه زۀ هر وخت دَ الله تعالیٰ نه سوال کوم او دُعاء غوارم چه ما لره دَ دا سے ظالمانو نه پناه را کړی۔

مِنْ كُلِّ مُتَكَبِّرٍ لَّا يُؤْمِنُ بِيَوْمِ الْحِسَابِ قاتل په ناحقه او ظالم هغه څوک دے چه دا دواړه صفتونه پکښ وی ځان لوے گنړی نو دَ چا حق خبره نه منی او طبیعت ئے غواړی چه په لاندے خلقو باندے ظلم اوکړی لیکن بعض طبیعت دَ انسان ظلم کول غواړی لیکن دَ قیامت دَ حساب نه ویره کوی او چه دَ حساب نه هم نه ویرېږی نو دا ډیر لوئے ظالم وی۔

يَعِدُكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ

چه وعده كوى تاسو سره دے يقيناً الله تعالى هدايت نه وركوى هغه چاته چه هغه

مُسْرِفٌ كَذَّابٌ ﴿۲۸﴾ يٰقَوْمِ لَكُمُ الْمُلْكُ

د حد نه تيرونونكى ډير دروغژن وى ۔ اے قومه زما ستاسو دپاره بادشاهى ده

۲۸۔ دَ دے ايت نه دعوت دَ رجلِ مؤمن شورو دے هركله چه موسىٰ عليه السّلام په الله تعالىٰ سره پناه او غوختله نو الله تعالىٰ دَ هغه دَ امداد دپاره دا رجلِ مؤمن را وچت كړو چه فرعون يئے منع كوو دَ قتل دَ موسىٰ عليه السّلام نه او په دے كښ تشجيع ده په دعوت باندے او ذكر دَ طريقے دَ دعوت هم دے او تسلّى ده اهل حق ته ۔ او په مكالمه دَ رجلِ مؤمن كښ شلور حصّے دى ۔ اوله حصّه په دوه ايا تونو كښ ده په دے كښ ذكر كوى يو كول دَ موسىٰ عليه السّلام دَ قتل كولو نه په نرمه ناصحانه طريقے سره او اشاره كوى چه دَ بادشاهئ دَ غرور دَ وجے نه دَ حق مقابله مه كوئے تباه به شئ ۔ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ ، الله تعالىٰ نوم نه دے ذكر كړے بلكه وصف دَ رجوليت يئے ذكر كړے دے اشاره ده چه دا پوره نر او كامل سړے وو ۔ مِنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ مفسرينو ويلے دى چه دَ فرعون دَ تره ځوئے وو او دَ دے وجے نه فرعون ورته ډير مهلت وركړو او دَ هغه بيان يئے هم واورېدو كه اسرائيلى وے نو فرعون دا سے مهلت نه وركوو ۔ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ دا طريقه دَ دعوت ده چه په وخت دَ ابتدا دَ دعوت كښ دا ضرورى خبره نه ده چه داعى خپل مسلك خلقو ته ښكاره كړى دپاره دَ دے چه هغه خلق دَ ابتدا نه نفرت او نه كړى هاں كه هغه خلق مطالبه اوكړى چه ستا مسلك او جماعت څه دے نو بيا دِ جواب وركړى (انّنى من المسلمين) سورة حٰم سجده ۳۳ ۔ او دا كتمان ګناه نه دے بلكه رخصت دے ځكه چه يو كتمان دَ حق دے چه بيان دَ حق نه كوى او بل كتمان دَ حال دے او په دے سره دَ هغه ايمان ته هيڅ نقصان نه دے رسيدلے دَ دے وجے نه الله تعالىٰ ورته مؤمن صفت ويلے دے او روستو هغه ايمان ښكاره كړے دے ۔ او كه په دا سے وخت كښ اظهار دَ ايمان كوى نو دا غوره او عزيمت دے دَ دے وجے نه په حديث دَ ابوبكر رضى الله عنه (چه روستو ذكر كيږى) كښ قول دَ على رضى الله عنه دا دے وَاللّٰهِ لَيَوْمٌ اَبِي بَكْرٍ خَيْرٌ مِنْ مُؤْمِنِ اٰلِ فِرْعَوْنَ اِنَّ ذٰلِكَ الرَّجُلَ كَتَمَ اِيْمَانَهُ فَاَثْنَى اللّٰهُ تعالىٰ عَلَيْهِ فِي كِتَابِهٖ وَهٰذَا اَبُوْ بَكْرٍ اَظْهَرَ اِيْمَانَهُ وَبَذَلَ مَالَهُ وَدَمَهُ لِلّٰهِ تعالىٰ ۔ دلته دَ يكتم

لَكُمُ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ظٰهِرِيْنَ فِي الْأَرْضِ فَمَنْ يَّنْصُرُنَا

تاسو ته زور اور يئ په دے ملک کښ نو څوک به مونږ سره مدد اوکړي

مِنْ بَأْسِ اللّٰهِ إِنْ جَآءَنَا ۗ قَالَ فِرْعَوْنُ

دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه که چرے راشي مونږ ته اُوئيل فرعون

معنیٰ کول چه پټولو ئے ايمان خپل دا دَ لغت او تمام مفسرينو نه خلاف ده ۔
اَنْ يَّقُوْلَ رَبِّيَ اللّٰهُ يعنی دَ دهٔ هيڅ جرم نيشته چه دَ هغے په وجه ئے قتل کوئے دَ الله تعالیٰ توحيد ته دعوت ورکول خو څه جرم نه دے ۔ وَقَدْ جَآءَكُمْ بِالْبَيِّنٰتِ يعنی دليل ئے تاسو ته راوړے دے او بے دليل نه بے بلکه ډير دی ۔
مِنْ رَّبِّكُمْ يعنی دليلونه ئے دَ ځان نه نه دی جوړ کړی بلکه دَ رب دَ طرف نه دی
وَإِنْ يَّكُ كَاذِبًا دا شک نه دے بلکه دا تلطّف (نرمه طريقه) کول دی يعنی که کاذب او که صادق وی نو په تاسو باندے وبال نيشته نو وَلے قتل کوئے بلکه که صادق وی نو په تاسو باندے به عذاب راشی ۔ بَعْضُ الَّذِيْ يَعِدُكُمْ مراد ترينه عذاب دَ دنيا دے لکه چه سورة طٰه ۴۸ کښ ذکر دی او باقی عذاب به په آخرت کښ وی ۔ امام بخاری او مسلم حديث ذکر کړے دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دَ کعبے په خوا کښ ولاړ وؤ نو عقبه راغے او دَ هغه اوگے ئے دَ شا دَ طرف نه اونيولے او دَ سټ نه ئے څادر تاؤ کړو مرے ئے ورله خفه کړه نو ابوبکر رضی الله عنه راغے او دَ عقبه اوگے ئے اونيولے او دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ئے لرے ديکه کړو او اوفرمائيل ئے اتقتلون رجلا ان يقول ربی الله وقد جاءکم بالبينات من ربکم ۔ او حکيم ترمذی او ابن حجر په الصواعق المحرقة کښ دا حديث اوګد ذکر کړے دے ۔
اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِيْ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ دا جمله مستانفه جواب سوال دے چه آيا په دے بيان سره فرعونيانو ته څه فائده اورسيدله نو جواب او شو چه مسرف کذاب ته فائده نه رسيږی ۔ دَ مسرف نه مشرک مراد دے او كَذَّابٌ په دعوئ دَ ربوبيت کښ دے او دا اوصاف دَ فرعون وو ۔ يا دا په کلام دَ رجل مؤمن کښ داخل دے يعنی بالفرض که موسیٰ عليه السّلام مسرف وی په ځان زيلے کوی او کذاب وی په دعوئ دَ رسالت کښ نو نشی کامياب کيدلے ۔

مَآ اُرِیۡكُمۡ اِلَّا مَآ اَرٰی وَمَآ اَهۡدِیۡكُمۡ اِلَّا سَبِیۡلَ

زهٔ رایئ نه درکوؤم تاسو ته مګر هغه چه ما رائ درکړې ده او نه خایئم زهٔ تاسو ته مګر لار

الرَّشَادِ ﴿۲۹﴾ وَقَالَ الَّذِیۡۤ اٰمَنَ یٰقَوۡمِ اِنِّیۡۤ

دَ کامیابئ . او اُوئیل هغه کس چه ایمان یې راوړے وؤ اے قومه زما یقیناً

اَخَافُ عَلَیۡكُمۡ مِّثۡلَ یَوۡمِ الۡاَحۡزَابِ ﴿۳۰﴾

ویره کوؤم په تاسو باندے پشان دَ ورځ دَ ډلو دیانو .

ف ۲۹ :- په دے ایت کښ تزهید فی الدنیا دے سرهٔ دَ تخویف نه چه دَ بادشاهئ او دَ زوراورئ په سبب دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه بچ کیدلے نشئ . یٰقَوۡمِ د الفظ دلیل دے چه دا رجلِ مؤمن دَ فرعونیانو دَ نسل نه وؤ او دَ دے ندا مقصود بالنداء پټ دے یعنی دَ الله تعالیٰ شکر اوکړئ په ایمان راوړلو سره په موسیٰ علیه السلام باندے او دَ دهٔ دَ قتل نه په ځان ساتلو سره (فاشکروا لله ولا تقتلوا موسیٰ) فَمَنۡ یَّنۡصُرُنَا جمع متکلم یئ ذکر کړه دَ پاره دَ بچ کیدلو دَ تهمت نه او ترغیب دَ نصیحت په قبلولو باندے . قَالَ فِرۡعَوۡنُ هرکله چه فرعون او بریدلو چه دَ دے سړی په بیان سره په خلقو باندے اثر پریوځی نو په هغه قوم باندے تلبیس اچوی چه زهٔ ستاسو خیرخواه او مرشد یم زما رایئ باندے عمل کوئ .

مَآ اَرٰی دا ماخوذ دے دَ رائ نه مراد دَ دے نه قتل کول دَ موسیٰ علیه السلام دی سَبِیۡلَ الرَّشَادِ یعنی دَ موسیٰ علیه السلام نه انکار کول او زما په دین باندے مضبوط پاتې کیدل دا هدایت او رشد دے او دغسے باطل پرستان خپلو باطلو طریقو ته دَ رشد او هدایت په نظر سره ګوری (وَیَحۡسَبُوۡنَ اَنَّهُمۡ یُحۡسِنُوۡنَ صُنۡعًا) .

ف ۳۰ :- دَ دے ایت نه دَ مکالمے دَ رجلِ مؤمن دویمه حصّه ده تر ف ۳۵ پورے په دے کښ تخویف دنیوی او اخروی ذکر کوی او دلیل نقلی دَ یوسف علیه السلام نه او زجر په مقاتو قبیحو باندے ذکر کوی . په دے کښ ترقی په دعوت کښ دَ ماقبل نه ده ځکه چه مخکښ دَ عذاب راتلل یئ په طریقه دَ شک سره (ان جاءنا) ذکر کړے وؤ او اوس یقیناً ذکر کوی په لفظ دَ اِنِّیۡۤ اَخَافُ عَلَیۡكُمۡ په تاکید سره . مِثۡلَ یَوۡمِ الۡاَحۡزَابِ هغه قومونه چه تحزب او ډله بازی یئ کوله په مقابله دَ رسولانو کښ دَ هغوی دَ عذابونو پشان . (سوال) دَ هغوی دَ

مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ

پشان د حال د قوم د نوح علیه السلام او د عادیانو او ثمودیانو

وَالَّذِيْنَ مِنْ بَعْدِهِمْ ۭ وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ

او د هغه کسانو چه د دوی نه روستو وو او نه غواړی الله تعالیٰ

ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ ۝۳۱ وَيٰقَوْمِ اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ

هیڅ ظلم کول په بندګانو باندے. او اے قومه زما یقیناً زه ویریږم په تاسو باندے

يَوْمَ التَّنَادِ ۝۳۲ يَوْمَ تُوَلُّوْنَ مُدْبِرِيْنَ ۚ

د ورځ د چغو وهلو نه. هغه ورځ چه اوبه ګرزئے تاسو شا کوونکی

مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ ۚ وَمَنْ يُّضْلِلِ

نه به وی تاسو لره د الله تعالیٰ نه ځغوک هیڅ کوونکے او هغه څوک چه بے لارے کړی

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ هَادٍ ۝۳۳ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ

الله تعالیٰ هغه لره نو نیشته هغه لره هیڅ هدایت ورکوونکے. او یقیناً راغلے وؤ تاسو ته

عذابونو ورځے او واقعات خو ډیر دی نو یَوْمِ لفظ ئې مفرد ولے ذکر کړے دے؟ (جواب) اشاره ده هغه قول د الله تعالیٰ د قدرت او د غضب په روانداے په یوه ورځ او په یو واقعه باندے حساب دی.

۳۱:- دا تفصیل د اجمال دے لفظ دَاْبِ کښ اشاره ده چه د هغوی کفر او تکذیب او د هغې په سبب سره عذاب راتلل د ټولو یو عادت او حالت مستمره ګی.
وَمَا اللّٰهُ يُرِيْدُ ظُلْمًا لِّلْعِبَادِ دا جمله مستانفه جواب سوال دے که څوک اُوائي چه دا قومونه هلاکول آیا ظلم نه دے؟ جواب اوشو په دے جملے سره یعنی بغیر د حجت نه او بغیر د ګناه نه عذاب نه ورکوی.

۳۲ ۳۳:- په دے کښ تخویف اخروی ذکر کوی. یوم التناد دا نوم د ورځ د قیامت په دے وجے سره دے چه په دغه ورځ کښ به ډیرے نداګانے وی. نداګانے د جنت والو جهنمیانو ته او برعکس او آوازونه د اعراف والو دواړو طرفونو ته او ندا د ملائکو جنتیانو ته او آوازونه هرچا ته د هغوی د امام په نوم باندے او فریادونه کول د کافرانو او ظالمانو او نداء د الله تعالیٰ پیریانو او انسانانو ته وغیره. مُدْبِرِيْنَ یعنی شا ګرځوونکے به وی رباے په یل مخ)

يُوسُفُ مِنْ قَبْلُ بِالْبَيِّنٰتِ فَمَا زِلْتُمْ

يوسف عليه السّلام ذَ دے نه مخکښ په ښکاره حکمونو سره نو هميشه وئے تاسو

فِيْ شَكٍّ مِّمَّا جَآءَكُمْ بِهٖ ط حَتّٰٓى اِذَا هَلَكَ

په شک کښ دَ هغې نه چه راوړے وُو تاسو ته تر هغې پورے چه کله مړ شو

قُلْتُمْ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ

نو تاسو اوويل هيچرے به رانه ليږى الله تعالىٰ دَ دهٔ نه روستو

رَسُوْلًا ط كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ

ئې رسول دغه شان بے لارے کوى الله تعالىٰ هغه چا لره چه دَ حد نه تيريږى

مُّرْتَابُۨ ﴿۳۴﴾ ج صلے الَّذِيْنَ يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِ اللّٰهِ

او پوخ شک کوونکے وى۔ هغه کسان چه جګړے کوى په اياتونو دَ الله تعالىٰ کښ

دَ موقف دَ حساب ته روان به کړے شى اور ته۔ مَا لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ مِنْ عَاصِمٍ يعنى دَ دوى معبودات باطله دوى لره نشى بچ کولے او نور هم هيڅوک بچ کوونکى نيشته۔

۳۴ :- دا دليل نقلى دے دَ يوسف عليه السّلام نه او دے ئې دَ دے وجے نه خاص کړو چه په مصر کښ دے مشهور پيغمبر رالېږلے شوے وُو او دا رنګ دا دَ روستنى جملے مثال ذکر کوى (چه الله تعالىٰ چا لره بے لارے کړى نو څوک ئې په لارے کولے نشى) بِالْبَيِّنٰتِ مراد ترينه هغه توحيد تفصيلى دے چه په سورة يوسف ۳۹ ۴۰ کښ ذکر دے۔ دا خطاب په اصل کښ دَ دوى مشرانو ته وُو ليکن دوى (موجوده) دَ پلارانو په لارے روان وو نو دوارو په خطاب کښ يو شان اوګرځولے شول۔ مِّمَّا جَآءَكُمْ دَ دے نه مراد توحيد دے۔ لَنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ مِنْۢ بَعْدِهٖ رَسُوْلًا يعنى کلک شوئے تاسو په کفر باندے او تاسو اُويل بنهٔ ده چه دَ يوسف نه خلاص شُو بل پيغمبر به بيا نه راځى۔ يا مراد دا دے چه هر کله يوسف عليه السّلام وفات شو او نظام دَ مصر ګډوډ شو نو تاسو ارمان اوکړو چه ارمان دے دلسے رسول به بيا راشى اشاره ده چه اوس دَ موسىٰ عليه السّلام نه انکار کوئے ليکن بيا به ورپسے ارمانونه کوئے كَذٰلِكَ کاف دَ پاره دَ تشبيه دے يعنى لکه چه مصر والا ګمراه شول دغه شان

بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ اَتٰىهُمْ ۚ كَبُرَ مَقْتًا

بغیر دَ دلیل نه چه راغلے وی دوی ته دبره غټه ده دا جګړه

عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۚ

په نيز دَ الله تعالىٰ او په نيز دَ مؤمنانو

كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ

دغه شان مهر وهى الله تعالىٰ په ټول زړه

مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ

دَ تکبر کوونکی زور ښکاره کوونکی - او اُوئيل فرعون

يٰهَامٰنُ ابْنِ لِيْ صَرْحًا لَّعَلِّيْٓ اَبْلُغُ

اے هامانه جوړه کړه ماله دنګه بنګله دَپاره دَدے چه اورسم

هر مسرف مرتاب ګمراه کيږی يا کاف په معنیٰ دَ لام تعليلی سره دے يعنی دَ وجے دَ شک کولو نه په توحيد کښ ګمراهی پيدا کيږی مُسْرِفٌ شرک کوونکے چه هغه دَ حدودو نه تجاوز کوی ځکه مسرف دے مُرْتَابٌ په بيّناتو دَ توحيد کښ شک کوونکے چه په درجه دَ انکار کښ اوګرځی نو مرتاب شی.

۳۵:- دا ترقی ده دَ دوی په ګمراهئ کښ چه اول شک وی بيا ارتياب شی بيا ګمراهی شی نو ورپسے جدال کول شی په حق کښ - بِغَيْرِ سُلْطٰنٍ دا معنیٰ دَ جدال باطل ده. اَتٰىهُمْ په دے لفظ کښ اشاره ده چه دليل هغه دے چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه راغلے وی نو دا سے دليل دَ دوی سره نيشته. كَبُرَ مَقْتًا دا قباحت دَ دے جدال ئے ذکر کړے دے چه دا لوئے سبب دَ غضب دَ الله تعالیٰ او دَ مؤمنانو دے كَذٰلِكَ کاف تشبيهی يا تعليلی دے. عَلٰى كُلِّ قَلْبِ کل ئے مقدم ذکر کړے دے اشاره ده چه دَ هر متکبر په زړه باندے مهر نه وهی ليکن هر کله چه دَ بعض متکبر په زړه مهر لګوی نو دا مهر احاطه اوکړی دَ هغه په زړه باندے ټول زړه ئے بند کړی. مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ اول په حقوق الله کښ دے او دويم په حقوق العباد کښ دے.

الْأَسْبَابَ ﴿۳۶﴾ أَسْبَابَ السَّمٰوٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلٰى

دروازو ته - دروازو دَ اسمانو نو ته نو وربنکاره په شم

إِلٰهِ مُوسٰى وَإِنِّي لَأَظُنُّهُ كَاذِبًا ۚ وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ

إِلٰه دَ موسٰی علیه السّلام ته او یقیناً زه گمان کوم په دهٔ باندې دروغژن او دغه شان خائسته کړې شویدې

لِفِرْعَوْنَ سُوٓءُ عَمَلِهٖ وَصُدَّ عَنِ السَّبِيلِ ۚ

فرعون ته نا کاره عمل دَ دهٔ او بند کړې شویوو دَ حق لارې ته

وَمَا كَيْدُ فِرْعَوْنَ إِلَّا فِي تَبَابٍ ﴿۳۷﴾

او نه وهٔ چل وَل دَ فرعون مګر په تباهٔ کښې ووٴ -

۳۶:- دا جواب دے دَ فرعون نه په طریقه دَ تلبیس سره دَ پاره دَ دے چې دَ خلقو په زړونو کښې کلام دَ رجلِ مؤمن اثر او نه کړي یعني خلقو ته دا ښکاره کوي چې په زمکه کښې خو اِله نهٔ یم او دَ موسٰی علیه السّلام اِله که چرے وي نو په اسمانونو کښې به وي نو دَ هغه دَ مقابلے دَ پاره دَ اسباب جوړولو حکم ئې هامان ته او کړو.
صَرْحًا دنګه بنګله یا مناره چه دَ لرے نه هم ښکاریږي. الْأَسْبَابَ هر هغه څیز چه یو ته پرے رسیدل کیدے شي نو هغه ته سبب ویلے کیږي که لار وي او که دروازه وي.
۳۷:- هر کله چه اسباب دَ اسمانونو ته رسیدل ګرانه خبره ده نو دَ هغه دَ اثبات دَ پاره اول ئې اجمال اوکړو نو اوس تفصیل کوي دَ پاره دَ تلبیس په خلقو باندے.
فَأَطَّلِعَ إِلٰى إِلٰهِ مُوسٰى په نصب (زوَر) دَ دے لفظ کښې یو وجه داده دا جواب دَ امر دے چه لفظ دَ اَبْنِ لِي دے او جواب دَ امر کښې دَ فَاء نه روستو اَن پټ وي او دا مسلک دَ بصریانو دے دویمه وجه داده چه دَ لَعَلِّيْ په جواب کښې هم اَن مقدّر وي دَ وجے دَ تشبیه نه دَ تمني سره او دا مسلک دَ کوفیانو دے او دا ډیر مفسرینو غوره کړے دے. او دا قول دَ فرعون په دے عقیده باندې بناء دے چه الله تعالٰی یو جسم دے او په اوچت مکان باندے ناست دے لکه دَ دنیا دَ بادشاهانو پشان او دَ هغه سره مقابله کیدے شي او دا عقیده هم کفر دے یا مراد دا دے چه یو اوچت محل جوړ کړي چه په هغه سره دَ کواکب حال معلومیږي او دے ته اسباب السموات ویلے کیږي نو دَ هغه نه به حال دَ اسمانونو معلوم کړي چه آیا دَ موسٰی علیه السّلام دَ حي دَ اسمانونو نه راځي او اِله

وَقَالَ الَّذِيٓ اٰمَنَ يٰقَوۡمِ اتَّبِعُوۡنِ

او ويل هغه کس چه ايمان يې راوړے وو اے زما قومه تابع شئ زما

اَهۡدِكُمۡ سَبِيۡلَ الرَّشَادِ ﴿۳۸﴾ يٰقَوۡمِ اِنَّمَا

او به ښايم تاسو ته لار د کاميابۍ - اے قوم زما يقينًا

دَ اسمانونو دَ لره رسول کړے دے وَاِنِّيۡ لَاَظُنُّهٗ كَاذِبًا دا لفظ دَ تلبيس دَپاره دے يعنې محل جوړول او اسمانونو ته ختل او اِله معلومول چه ضروري خبره نه وه ځکه چه غالب گمان يا يقين دا دے چه موسٰى عليه السلام په دعوى دَ اِله کښ او په دعوى دَ رسالت کښ دروغژن دے . وَكَذٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرۡعَوۡنَ يعنې لکه چه اسمانونو ته ختل او دَ الله تعالٰى حالات معلومول ممکن ندي او دَ ټولو اهل عقلو په نيز باندے ناکاره عمل دے ليکن دهٔ ته هغه خائسته عمل ښکاريدلو او چا چه شرک، او کفر ښهٔ کار او گنړلو نو هغه دَ توحيد منلو نه محروم وي دَ دے وجې نه وصد عن السبيل يې ذکر کړو.

وَمَا كَيۡدُ فِرۡعَوۡنَ اِلَّا فِيۡ تَبَابٍ دا جمله مستانفه جواب سوال دے چه ايا په دے مکر دَ فرعون سره څه کاميابى حاصله شوه نو جواب او شو حاصل دَ جواب دا دے چه دا صرح يې جوړ کړے نه دے يا يې جوړ کړو او دَ مال او دَ وخت تاوان يې او شو ليکن الله تعالٰى هغه محل تباه کړو او فرعون او دَ هغه قوم يې غرق کړو.

س ۳۸ :- دا دريم حِصّه ده دَ مکالمے دَ رجل مؤمن ترسګ پورے په دے کښ دعوت ورکوي خپلے اتباع ته او ترهيب في الدنيا او بشارت اخرويه ذکر کوي . اهدكم سبيل الرشاد دا په مقابله دَ قول دَ فرعون کښ دے چه په س ۲۹ کښ تير شو او په دے کښ تصريح او کړه رجلِ مؤمن دَ خپل مسلک او دَ مقابلے کولو دَ فرعون سره (سوال) رجلِ مؤمن دَ يٰس تابعدارے دَ رسولانو ته دعوت ورکړے دے (اتبعوا المرسلين) او دے رجلِ مؤمن خپلے تابعدارے ته دعوت ورکړے دے او دا رنګ امتي لره خو دا نه دي جائز چه خپلے تابعدارے ته خلق را اوبلي ؟ جواب دا دے . په واقعه دَ سورة يٰس کښ قوم تکذيب دَ رسولانو کړے وو دَ هغوى تابعداري کول يې سپېره والے گنړلو نو رجلِ مؤمن دَ هغوى دَ تابعدارے امر ورکړو او دَ هغے سبب يې ذکر کړو او په دے سورت کښ فرعون دَ قتل دَ موسٰى عليه السّلام اراده کړے وه او رجلِ مؤمن دَ موسٰى عليه السّلام دَ بچ کولو کوشش کوو نو اُويل يې چه زما سره موافقت او کړئ دَ موسٰى عليه السّلام په بچ ساتلو کښ دَ قتلولو نه او په دے خبره کښ رشد دے او دا سے موافقت ته دعوت ورکول کار دَ امتي دے نو دا اتباع په معنٰى دَ ملګرتيا کولو ده -

هٰذِهِ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا مَتَاعٌ ۫ وَّاِنَّ الْاٰخِرَةَ

دا ژوند دنیوی لږه مزه ده او یقیناً آخرت

هِيَ دَارُ الْقَرَارِ ﴿۳۹﴾ مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا

هغه کور د همیشه آرام دے. چاچه عمل کړیوی ناکاره نو

يُجْزٰٓى اِلَّا مِثْلَهَا ۚ وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّنْ

بدله به نشي ورکیدے مګر د هغې په شان او چاچه عمل اوکړو موافق د سنت سړه که

ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ

نارینه دی او که زنانه دی او حال داچه مؤحد دی. نو دغه کسان به داخلیږی

الْجَنَّةَ يُرْزَقُوْنَ فِيْهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿۴۰﴾

جنت ته روزی به ورکیدیشی په هغې کښې بے حسابه.

وَيٰقَوْمِ مَا لِيْٓ اَدْعُوْكُمْ اِلَى النَّجٰوةِ وَتَدْعُوْنَنِيْٓ

او اے زما قومه څه دیه ده ما لره (اوتاسو لره) چه زۀ رابلم تاسو نجات ته او تاسو بلے ما لره

۳۹: په دے کښې تزهید فی الدنیا او ترغیب الی الآخرة ذکرکوی یعنی د دنیا د اقتدار د پاره د پیغمبر مخالفت مه کوئ. مَتَاعٌ نظم الدرر او تفسیر سراج المنیر کښې ذکر دی چه د عربو په محاوره کښې په مرداره باندے د متاع اطلاق کیږی چه هغه صرف د سخت ضرورت په وخت کښې د ضرورت مطابق جائز ده نو دارنګ دنیا هم ده. او هر کله چه په لفظ د متاع کښې دلالت کول دی په زر فنا کیدلو باندے نو د هغې په مقابله کښې جنّت ته یې دارالقرار اُویل معنیٰ په هغې کښې فنا نیشته بلکه همیشه ژوندون دے الاٰخِرَةَ په معنیٰ د جنّت دے یا په معنیٰ د دوزخ د آخرت دے.

۴۰: په دے کښې اشاره ده چه آخرت مکان د جزاء او د بدلے دے او تخویف او بشارت یې ذکرکړو. بِغَيْرِ حِسَابٍ (شمار) یې نشي کیدے یا حساب کول په هغې کښې نیشته.

إِلَى النَّارِ ﴿۴۱﴾ تَدْعُونَنِي لِأَكْفُرَ بِاللَّهِ وَأُشْرِكَ

اُور ته - تاسو بلے ما لره دے د پاره چه کفر اوکړم په الله تعالىٰ او شريک کړم

بِهِ مَا لَيْسَ لِي بِهِ عِلْمٌ وَأَنَا أَدْعُوكُمْ

ده هغه سره هغه څوک چه نيشته ما لره په شرکت د هغه باندے هيڅ دليل او زۀ رابلم تاسو

إِلَى الْعَزِيزِ الْغَفَّارِ ﴿۴۲﴾ لَا جَرَمَ أَنَّمَا

زور اور او بخښه کوونکى ذات ته - خامخا هغه څوک

تَدْعُونَنِي إِلَيْهِ لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ

چه تاسو بلے ما لره هغه ته نيشته د هغه په وس کښ دُعا قبلول

فِي الدُّنْيَا وَلَا فِي الْآخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَا إِلَى اللَّهِ

په دنيا کښ او نه په آخرت کښ او يقيناً واپسى زموږ الله تعالىٰ ته ده

وَأَنَّ الْمُسْرِفِينَ هُمْ أَصْحَابُ النَّارِ ﴿۴۳﴾

او يقيناً مشرکان دى هميشه اوسيدونکى په اُور کښ -

۴۱:- دَ دے ايت نه تر ۴۴ پورے دَ مکالمے دَ رجل مؤمن څلورمه حصّه ده او
په دے کښ تفصيل دے دَ توحيد او دَ شرک او بيان دَ فرق دے دَ دواړو دعوتونو
په مينځ کښ او محاکمه کول دى - نو په دے ايت کښ غاية دَ توحيد (نجات)
او غاية دَ شرک (اُور) ئے ذکر کړے دے دَ جنّت نه ئے تعبير په نجات سره اوکړو
اشاره ده چه په جنّت کښ دَ هر غم او مصيبت او تکليف او فنا وغيره چه دَ دنيا اوصاف
دى نجات حاصليدل دى -
۴۲:- دا تفسير دَ ماقبل دے په طريقه دَ لف نشر غير مرتب يعنى دَ النَّارِ نه مراد کفر
او شرک دے او دَ النجاة نه مراد توحيد دَ عزيز غفار دے تَدْعُونَنِي مدعو اليه حذف
دے يعنى لِأَ اِلٰهتکم من دون الله - وَأُشْرِكَ دا تفسير دَ أَكْفُرَ دے -
الْغَفَّارِ په دے کښ اشاره ده چه الله تعالىٰ شرک لره هم په توبے سره بخښى
او نور گناهونه هم بخښى -
۴۳:- دا صريح رد دے په شرک فى الدعاء باندے أَنَّمَا لفظ دَ مَا عام دے
معبودان من دون الله تعالىٰ ته که بُتان وى او که بزرگان وغيره ټولو ته شامل دے
لَيْسَ لَهُ دَعْوَةٌ زجاج معنى کړے ده ليس له استجابة دعوة (بانے په بلغ)

فَسَتَذْكُرُوْنَ مَآ اَقُوْلُ لَكُمْ ۚ وَاُفَوِّضُ اَمْرِيْٓ

نو زر ده چه یاد به کړئ تاسو هغه چه زهٔ وایم تاسو ته او سپارم خپل کار

اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ ﴿۴۴﴾

الله تعالیٰ ته یقیناً الله تعالیٰ لیدونکے دے د بندګانو خپلو -

فَوَقٰىهُ اللّٰهُ سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا وَحَاقَ بِاٰلِ

نو بچ اوساتلو الله تعالیٰ هغه لره د بدو (اثارو) چلونو د هغوی نه او راګیر کړه

فِرْعَوْنَ سُوْٓءُ الْعَذَابِ ﴿۴۵﴾ اَلنَّارُ يُعْرَضُوْنَ

فرعونیانو لره ناکاره عذاب - اُور پیش کیدیشی دوی

یعنی دوی د هیڅ حاجت او دُعا نشی قبلولے نه په دنیا او نه په آخرت کښ او د کلبی نه نقل دے چه دوی لره شفاعت نیشته (شفاعت قهریه) په دنیا او آخرت کښ یا مراد د دے نه حق د دُعا او د عبادت دے یعنی دوی په دنیا او آخرت کښ د عبادت او د دعا حقدار نه دی وَاَنَّ الْمُسْرِفِيْنَ مراد د دے نه مشرکان دی چه د حدودو شرعیو نه یئے زیاتے کړے دے هم اَصْحٰبُ النَّارِ مراد د اصحاب نه هغه کسان دی چه همیشه لازم وی د اُور سره او همیشه جهنمی کیدل خاص دی په کافرانو مشرکانو پورے -

۵۴ :- دا خاتمه د بیان ده په ډیر غوره خاتمے سره ځکه چه اول تهدید دے په نه منلو سره حاصل دا چه اوس زما دعوت نه منئ لیکن بیا به ارمان اوکړئ په وخت د نزول عذاب کښ بیا تفویض او توکل علی الله دے او مفسرینو لیکلی دی چه فرعونیانو د قتل د دے رجل اراده اوکړه نو هغه دا کلمه اُویله او دا کلمه یئے ایزده کړے ده د موسیٰ علیه السّلام نه چه انی عذت بربی وربکم من کل الاٰیة

۵۵ :- دا برکت د دعوت الے الله دے چه په هغه قوم باندے عذاب راغے او دے تری بچ شو - سَيِّاٰتِ مَا مَكَرُوْا مراد هغه عذابونه دی چه په وخت په فرعونیانو باندے نازلیدل او هغه په سورة اعراف کښ ذکر دی یا مراد تری نه غرق دے او تفسیر مدارک کښ نسفی لیکلی دی چه فرعون د دهٔ د قتل کولو دپاره دوه کسان اولیږل نو بعضے کسان درندګانو اوخوړل او کوم کسان چه واپس راوتختیدل نو هغه فرعون پانسی کړل - سُوْٓءُ الْعَذَابِ مراد تری نه هغه ټول عذابونه دی سره د غرق نه -

عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ ۖ قف
(په هغې باندے صبا او بيګا او په هغه ورځ چه قائم شی قيامت (او به ويلے شی)

أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ ﴿۴۶﴾
داخل کړئ فرعونيان ډير سخت عذاب ته -

۴۶ :- اَلنَّارُ بدل دے دَ سوء العذاب نه يا خبر دَ مبتدا محذوف دے او په دے دواړه توجيهاتو باندے يُعْرَضُوْنَ حال دے دَ النار يا دَ آل فرعون نه - يا النار مبتدا ده يعرضون يے خبر دے ، غُدُوًّا وَّعَشِيًّا مراد دَ دے نه صبا او بيګا دے دَ دُنيا دَ ورځو په حساب باندے يعنی په اور باندے پيشی ېدا دوه وخته وی او باقی اوقاتو کښ نور عذابونه دی يا دا کنايه ده دَ هميشه والی نه - او ابن کثير په سند دَ ابن ابی حاتم سره حديث ذکر کړيدے چه ارواح دَ فرعونيانو دَ تورو مارغانو په خيټو کښ دی او صبا بيګاه په جهنم باندے پيش کيږی - او دَ قتاده روايت دے چه دا حال دَ روح دَ هر کافر دے - او حديث دَ بخاری او مسلم کښ په روايت دَ ابن عمر رضی الله عنهما سره وارد دی چه ټول اهلِ نار باندے مقعد دَ هغه پيش کيږی صبا او بيګا تر قيامته پورے -

فائده :- دَ دے ايت نه ډير مفسرينو او محدثينو او علماءِ عقائدو استدلال کړے دے په دے خبره چه عذاب قبر حق دے او امام بخاری په ترجمة الباب دَ عذاب القبر کښ دا ايت کريمه ذکر کړے دے په دے باب کښ او دا ضروری خبره داده چه په احاديثو صحيحه کثيره کښ خو لفظ دَ عذاب القبر راغلے دے او عذاب فے القبر هم راغلے دے (انهما ليعذبان فے قبورهما ، الحديث) په دے باندے دليل دے نو دَ دے تعبير نه انکار کول ګمراهی ده هاں تفصيلی کيفيت دَ هغې زمونږ دَ شعور او علم نه اوچت دے بعض هغه تفصيلات چه صحيح احاديثو کښ راغلی دی مثلاً سوال جواب کول او دَ هغې دَ پاره کينول دَ مړی او دَ چا دَ پاره وسعت دَ قبر او دَ چا دَ پاره تنګسيا دَ قبر دَ مرګو په اجزاؤ او حواصلو کښ دَ روح اچول وغيره دَ دے منل ضروری دی بيا دَ اهل سنت والجماعت په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه عذاب په روح باندے په خپل مستقر کښ او په بدن باندے په خپل مکان کښ برابره خبره ده که روغ سالم وی او که ذرے ذرے وی او که ذرے په خيټو دَ حيواناتو کښ وی او که درياب کښ وی وغيره او بدن ته الله تعالیٰ دومره حيات ورکړے دے (رياتے په بل مخ)

وَإِذْ يَتَحَاجُّونَ فِي النَّارِ فَيَقُولُ الضُّعَفَٰٓؤُا

د کله چه دوی به جګړه کوی په اور کښې نو وائي به کمزوري

لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ

هغه کسانو ته چه لوئي ئې کړیده یقیناً موږ ستاسو د پاره

تَبَعًا فَهَلْ أَنتُم مُّغْنُونَ عَنَّا نَصِيبًا

تابعدار وو نو ایا تاسو لرې کوونکي ئئ زموږ نه یوه برخه

مِّنَ النَّارِ ﴿٤٧﴾ قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوٓا إِنَّا

د اور - او به وائي هغه کسان چه لوئي کړیده یقیناً موږ

چه د عذاب احساس کولے شي لیکن تعلق د روح د بدن سره په دے باندے صریح صحیح دلیل نیشته او مسئله د عود د روح په سورة زمر کښې موږ ذکر کړے ده دویم قول دادے چه عذاب صرف په روح باندے دے لیکن په شرط د جسمِ مثالی سره چه په هغې باندے حدیث د طیر تعلق فی شجر الجنة دلالت کوی او د عذاب تعلق د بدن اصلی سره نیشته په دے کښې اول قول صحیح دے۔ که چرے سوال اوکړے شي چه دا ایت مکیّه دے او په حدیث د امام احمد رحمة الله کښې وارد دی چه عذاب د قبر نیشته هاں څه وخت روستو بیا نبي صلّی الله علیه وسلّم ته وحی اوکړے شوه په باره د عذاب قبر کښې او دا حدیث وارد دے په مدینه منوره کښې نو چه په مکه کښې الله تعالٰی دا ایت رالیږلے وُو او په دے کښې اثبات د عذاب قبر وُو نو نبي صلّی الله علیه وسلّم انکار ولے کاوُو۔ د دے جواب ابن کثیر په درے طریقو سره کړے دے اول جواب دا دے چه په دے ایت سره صرف پیشی د روح په اور باندے په برزخ کښې ثابت ده۔ او دا دلالت نه کوی چه د بدن سره د عذاب تعلق شته او که نه! نو حصول د عذاب د بدن د پاره په احادیثو سره د دے ایت د نزول نه روستو ثابت شو۔ دویم جواب دا دے چه ایت دلالت کوؤ په عذاب د کافرانو فقط د دے نه عذاب د مؤمن په قبر کښې نه ثابتیږ لو او په احادیثو سره عذاب د مؤمنانو ګنهګارانو ثابت شو۔ دریم جواب دا دے چه ایت دلالت کوی په عذاب د ارواحو باندے نو په احادیثو کښې عذاب د اجسادو هم ثابت شو۔

ف۴۷:۔ دا تخویف اخروی دے مرتب دے په واقعه د فرعونیانو لکه چه ال فرعون

كُلٌّ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ بَيْنَ ٱلْعِبَادِ ﴿۴۸﴾

ټول په دے کښ پراته یو یقینًا الله تعالیٰ فیصله کړیده په مینځ د بندګانو کښ۔

وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِى ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدْعُوا۟

او اوبه وائي هغه کسان چه په اور کښ دی څوکیدارانو د جهنم ته دُعا اوغواړئ

رَبَّكُمْ يُخَفِّفْ عَنَّا يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ ﴿۴۹﴾

د رب خپل نه چه اسان کړی زمونږ نه یو ورځ د عذاب نه۔

قَالُوٓا۟ أَوَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ

دوی به اوائی آیا نه وو راغلی تاسو ته رسولان ستاسو په ښکاره دلیلونو سره

قَالُوا۟ بَلَىٰ ۚ قَالُوا۟ فَٱدْعُوا۟ ۗ وَمَا دُعَٰٓؤُا۟ ٱلْكَٰفِرِينَ

دوی به اوائی هان ولے نه۔ او به وائي ملائیک نو دُعاګانی له اوغواړئ او نه ده دُعا د کافرانو

دَ فرعون تابعداری کړے ده په کفر او شرک کښ داسے هر هغه څوک چه دَ باطل پرستو ملایانو پیرانو اقتدار والو تابعداری کوی نو په جهنم کښ به دننه دَ دوی جګړه دی۔ الضُّعَفَآءُ مراد ترینه هغه خلق دی چه په علم او عقل کښ کمزورے وی په بدن کښ کمزوری ترینه مراد نه ده۔ تَبَعًا دا دَ مفرد او جمع دواړو دپاره مستعمليږی یا اسم جمع دَ تابع ده۔

ف۴۸:۔ دا جواب دے دَ مستکبرینو په اظهار دَ عجز سره چه مونږ ګان نه شو خلاصولے نو تاسو نه به څنګه عذاب دفع کړو إِنَّ ٱللَّهَ قَدْ حَكَمَ یعنی فیصله دَ الله تعالیٰ ده په هغے کښ دَ چا وس نه چلیږی او دا فیصله په انصاف سره ده نو اعتراض پرے نشی کیدلے۔

ف۴۹:۔ هر کله چه په کورنۍ کښ دَ یو بل دَ مدد نه نا امیده شی نو څوکیدارو (ملائکو) دَ جهنم نه به طلب دَ دُعا اوکړی۔ يَوْمًا مِّنَ ٱلْعَذَابِ دا تنزّل دے په درخواست کولو کښ یعنی که پوره نجات نه راکوی یعنی په یو غیر معینه ورځ کښ لږ عذاب دِ زمونږ نه لرے کړی۔ جَهَنَّمَ دَ دے لغوی معنیٰ ده ډو ډیر ژور والا یا سخت تیز۔

إِلَّا فِي ضَلٰلٍ ﴿٥٠﴾ إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ

مگر برباده ده - یقینًا موږ مدد کوو د رسولانو خپلو سره او د

اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ

مؤمنانو سره په ژوند دنیوی کښ او په هغه ورځ چه پیش به شی

الْاَشْهَادُ ﴿٥١﴾ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ

گواهان - په هغه ورځ چه نفع به نه ورکوی ظالمانو ته

ف۵۰- دا جواب دے د ملائکو د طرفه په تاکید سره په زور نه کښ رُسُلُكُمْ یعنی ستاسو د جنس نه پیغام راوړونکی د الله تعالیٰ وو او بے دلیله خبره ئے نه ده کړے بلکه بِالْبَيِّنٰتِ ډیر واضح دلیلونه ئے راوړے وو سره د دے نه تاسو انکار کړے وؤ نو معلومه شوه چه تاسو ډیر ظالمان کافران ئے موږ ستاسو د پاره سفارش نه شو کولے خپله ځان له دُعا اوغواړئے - وَمَا دُعٰٓؤُا الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ مراد ترینه دُعا ده په آخرت کښ چه هغه برباده ده نه قبلیږی - دنیا کښ د دوی بعضے دُعاګانے قبلیږی-

ف۵۱- د دے سورت دریم باب دے تر آخر د سورت پورے په دے کښ تسلّی ده ایمان والو ته او امر دے په صبر او استغفار او تسبیح سره د پاره د دعوت کوونکی - او امر دے په استعاذه سره په وخت د جدال د خلقو کښ - بیا اثبات د قیامت دے په دوه دلیلونو سره - بیا رد دے په شرک فی الدعا باندے چه دعویٰ د سورت ده او په څه باندے تفصیلی اووه دلیلونه دی چه په څه کښ تفصیل د نعمتونو د الله تعالیٰ دے چه مالک د دے نعمتونو الله تعالیٰ دے نو د بل چا نه ولے حاجتونه غواړئے - بیا زجر او تخویف شدید دے ځا دلیلونه او دلیل نقلی اجمالی دے د انبیاء علیهم السّلام نه او بیا درے عقلی دلیلونه دی او اختتام دے په تخویف دنیوی او په عدم قبولیت د توبے سره په وخت د عذاب کښ - په دے (ف۵۱) کښ تسلی ده په نصرت الٰهیه سره او دا نتیجه ده د ماقبل چه فرعونیان د دُنیا او د آخرت په عذابونو مبتلا شول او مؤمنان بنی اسرائیل الله تعالیٰ د عذاب نه بچ کړل او د دشمن په مقابله کښ ورسره مدد اوکړو نو دا حال د ټولو مؤمنانو دے فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُوْمُ الْاَشْهَادُ په دنیا کښ امداد دے کله په غلبه ورکولو سره کله

مَعْذِرَتُهُمْ وَلَهُمُ اللَّعْنَةُ وَلَهُمْ

بهانے دَ هغوی او دوی دَپاره لعنت دے او دوی لره

سُوٓءُ الدَّارِ ﴿۵۲﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْهُدٰى

ناكاره كور دے . او يقيناً ورکړے وو موږ موسیٰ علیه السّلام ته هدایت

وَاَوْرَثْنَا بَنِىٓ اِسْرَآءِيْلَ الْكِتٰبَ ﴿۵۳﴾

او پاتے کړو مونږ په بنی اسرائیلو کښ کتاب (تورات)

هُدًى وَّذِكْرٰى لِاُولِى الْاَلْبَابِ ﴿۵۴﴾

چه هدایت او نصیحت وو خالص عقل والو لره .

فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّاسْتَغْفِرْ

تو صبر کوه . يقيناً . وعده دَ الله تعالیٰ رشتیا ده او . بخته غواړه

دَ دشمن په هلاکولو سره او په اخرت کښ نصرت دَ جهنم نه بچ کول او جنت ته داخلول او عزت او اکرام ایدی ورکول . الاَشْهَادُ مراد دَ دے نه هغه شاهدان دی چه په جُدا جُدا ایاتو توکښ ذکر کړیدی . پیغمبران لکه سورة نساء سلک مؤمنان لکه سورة بقره سلاا اندامونه لکه سورة یٰس سلا او سورة نور سلا او حٰم سجده سنا ملائک لکه سورة قٓ سلا .

سلا :- دَ مظلومانو دَ بشارت نه روستو دَ ظالمانو حال ذکر کوی لَا يَنْفَعُ الظّٰلِمِيْنَ مَعْذِرَتُهُمْ یعنی معذرت به نه شی پیش کولے او که بالفرض پیش کوی نو قائده به نه ورکوی لکه سورة مرسلات سلا او سورة قیامة سلا کښ .

سلا سلا :- دا هم یو نوع دَ نصرت الٰهیه دے او دارنګ دا سبب دے دَپاره دَ حصول دَ نصرت الٰهیه او دا دلیل نقلی دے دَ کتاب دَ موسیٰ علیه السّلام نه وَاَوْرَثْنَا په دے کښ اشاره ده چه دا کتاب په بنی اسرائیلو کښ چلیدلو تر نزول دَ انجیل پورے او دارنګ لفظ دَ میراث دلالت کوی چه دوی اهل او حقدار دَ دے کتاب وو .

اول الهدیٰ مفعول به دے او دویم هُدًى مفعول لهٗ دے هدایت ئے عام وو او تذکرئے خاص وو په اولو الالباب پورے .

لِذَنْۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ

دپاره دَ خطائي خپلې او پاکي وايه سره دَ ستائينې دَ رب ستا ته بيگا

وَالْإِبْكَارِ ﴿۵۵﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُجَادِلُونَ

او صبا ۔ يقيناً هغه کسان چه جګړه کوي

فِي آيَاتِ اللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَانٍ أَتَاهُمْ إِنْ

په اياتونو دَ الله تعالىٰ کښې بغير دَ دليل نه چه دوی ته راغلې وی نيشته

فِي صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَالِغِيهِ

په سينو دَ دوی کښې مګر لوے حسد دے چه نه دی دوی رسيدونکی هغې پورې کيدلو ته

فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ

نو پناه غواړه په الله تعالىٰ سره يقيناً هغه هر څه اوری

۵۵۔ دا تسلّی ده رسول الله صلّی الله عليه وسلّم لره او اداب ذکرکوی دَپاره دَداعی الے الحق او په دے ايت کښې درے اداب ذکر دی۔ ۱ صبر په مصيبتونو باندے۔ ۲ استغفار۔ ۳ تسبيح اوحمد۔ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ مراد دَ دے نه وعده دَ نصرت ده چه ۵۱ کښې ذکر شوه۔ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ لفظ دَ استغفار مستلزم دَگناه نه دے بلکه هر بنده اوبالخصوص مقرّب بنده لره دَ استغفار په طور سره اظهارِ دَ بندګۍ لازم دے او دارنګ لفظ لِذَنْبِكَ صريح په گناه کولو کښې نه دے بلکه که ذنب چه په معنىٰ دَگناه وی نو عام مفسرين تاويل کوی په ذنب امتك سره يا په تعليق مقدّر سره يعنی که "بالفرض گناه درنه صادر شوے وی"۔

يا ذنب نه مراد خلاف اولىٰ دی چه هغه گناه نه دے ليکن انبياء عليهم السّلام دَ هغې په کولو باندے هم خفه کيږی۔ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ مراد دَ عشی نه دَ زوال نه تر غروب دَ نمر پورے او مراد دَ ابکار نه دَ صبا ختلو نه تر زوال پورے يا دَ نمر ختلو پورے۔ صبر بندګی دَ زړه ده استغفار بندګی دَ ژبے ده او تسبيح اوحمد بندګی دَ عام بدن ده۔

الْبَصِيْرُ ﴿۵۶﴾ لَخَلْقُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ اَكْبَرُ

هر څه ویني - خامخا پیدائش دَ اسمانونو او دَ زمکے ډیر لوے دے

مِنْ خَلْقِ النَّاسِ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ

دَ پیدائش دَ انسانانو نه لیکن ډیر دَ دے انسانانو نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۵۷﴾ وَمَا يَسْتَوِي الْاَعْمٰى

نه پوهیږی - او برابر نه دے روند

وَالْبَصِيْرُ ۙ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او لیدونکے او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړی دی دَ سنت برابر

۵۶ :- په دے ایت کښ څلورم ادب ذکر کوی یعنی استعاذه با الله په وخت دَ جدل دَ مجادلینو کښ - او زجر دے هغوی ته او تسلّی ده چه مجادلین خپل مقصد ته نه شی رسیدلے -

اِنَّ فِيْ صُدُوْرِهِمْ اِلَّا كِبْرٌ مراد دَ کِبر نه امر کبیر (لوے مقصد) دے هغه په ۵ کښ تیر شویدے یعنی حق لره مغلوب کول او حق پرستو لره ختمول - مَّا هُمْ بِبَالِغِيْهِ دوی دغه مقصد ته نشی رسیدلے یعنی دغه مقصد دَ دوی نه حاصلیږی یا مراد دَ کِبر نه تکبر اولوئی ده یعنی دَ دوی په سینو کښ تکبر دے دَ حق منلو نه او نشی رسیدلے دوی مقتضٰی دَ دے تکبر ته او مقتضٰی دَ تکبر حق لره ختمول دی او هر کله چه دَ دوی دَ جدال او تکبر په سبب مؤمن داعی غصّه کیږی نو دَ غصے دَ دفع کولو دَ پاره ئے اُفرمائیل فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ -

۵۷ :- په دے ایت کښ زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت روستو دَ زجر نه په انکار دَ توحید باندے او اثبات دَ قیامت دے په دلیل اِنّی سره یعنی پیدائش دَ اسمانونو او زمکے دَ اثارو دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے خو دا دلیل ذے په دے باندے چه الله تعالیٰ دَ خلقو په بیاره ژوندی باندے قدرت لری نو دا استدلال دے دَ اثارو نه او دے ته دلیل اِنّی ویلے کیږی - او دا رنګ دا استدلال دے دَ قدرت نه په اعلیٰ څیز باندے په قدرت سره په ادنیٰ څیز باندے او دا قطعی دلیل دے -

وَلَا الْمُسِيْٓءُ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۵۸﴾

او نه بد عمل ډیر لږ نصیحت اخلئ تاسو -

اِنَّ السَّاعَةَ لَاٰتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيْهَا وَلٰكِنَّ

یقینًا قیامت خامخا راتلونکی دے هیڅ شک نیشته په هغې کښې لیکن

اَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَقَالَ

ډیر د خلقو نه ایمان نه راوړی - او ویلے دی

رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ

رب ستاسو حاجتونه غواړئ زما نه زۀ به پوره کوم حاجتونه ستاسو یقینًا هغه کسان

يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ

چه لوئی کوی د دُعا زما نه زر ده داخل به شی

جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ ﴿۶۰﴾ اَللّٰهُ الَّذِيْ جَعَلَ

جهنم ته ذلیلان به وی - الله تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ده

سـ۵۸ :- دا هم استدلال دے په اثبات د قیامت باندے په طریقه د دلیل لمّی سره یعنی فرق په میځ د دے فریقینو په دنیا کښې په عقیده او عملونو کښې دلیل دے په فرق کولو سره په جزا او سزا کښې او میدان د جزاء او سزا خوځیږی د میدان د عمل نه نو معلومه شوه چه قیامت حق دے - په دے ایت کښې اول عدم مساوات په طریقه د تشبیه سره او دویم په طریقه د اصل سره دے ځکه چه مراد د اعمیٰ نه جاهل مقلد دے او مراد د بصیر نه عالم مستدل دے او دا ئے په سراج المنیر کښې لیکلے دی۔

سـ۵۹ :- دا نتیجه د ماقبل دواړه دلیلونو ده په سـ۵۷ کښې دلیل ذکر کړے وو او دے په دلیل باندے نه پوهیږی نو هغه ته ئے علمه ویلے کیږی د دے وجے نه د هغه ایت په اخر کښې لا یعلمون ذکر کړے دے او په دے ایت کښې مقصد ذکر کړے دے او دا مقصد چه نه منی نو هغه ته بے ایمانه ویلے کیږی ځکه ئے دلته لا یومنون اویل -

سـ۶۰ :- هرکله چه په قیامت کښې د نجات دپاره عقیده او عمل د توحید ضروری دی نو اوس په دے ایت کښې توحید فی الدعاء ته رجه دعویٰ د سورت ده)

لَكُمُ الَّيْلَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا
تاسو لره شپه (تیاره) چه آرام کوئ په هغې کښې او ورځ رڼړا والا
إِنَّ اللّٰهَ لَذُوْ فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلٰكِنَّ
یقیناً الله تعالیٰ فضل والا دے په خلقو باندے لیکن
أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَشْكُرُوْنَ ﴿٦١﴾ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ
ډیر د خلقو نه شکر نه کوی دغه ذات الله تعالیٰ دے

ترغیب ورکوی او دا دلیل وحی دے د پاره د اثبات د دعوے. أَسْتَجِبْ لَكُمْ هر کله چه مراد دُعا نه شرعی دُعا ده چه هغه مشروط ده په شرطونو په نورو آیاتونو کښې او احادیثو کښې او د هغې سره وعده د استجابت لازمه ده د دے وجے نه استجب سره یې قید نه دے لګولے یا دا چه قید د اِن شئت دلته پټ دے په قرینه د نورو آیاتونو سره لکه سورة اسراء ۱۸ انعام ۴۱ لیکن اول قول صحیح دے ځکه چه دا قیودات د کافرانو په باره کښې دی.
يَسْتَكْبِرُوْنَ استکبار په طریقه د مجادلے سره او په طریقه د شرک کولو سره دے عَنْ عِبَادَتِيْ مراد د عبادت نه دُعا ده په طریقه د توحید سره او په دے باندے دلالت کوی هغه حدیث صحیح چه الدعاء هو العبادة. او حدیث په لفظ د الدعاء مخ العبادة سره ضعیف دے. دٰاخِرِيْنَ په ذلت سره جهنم ته داخلیدل مختص دی په کافرانو پورے نو دا دلیل شو چه استکبار د دُعا د الله تعالیٰ نه کفر دے او مراد د دُعا نه په دے آیت کښې سوال د حاجاتو دے په عقیده د توحید سره.
۶۱:۔ هغه کښې آیت کښې دعویٰ د توحید ذکر شوه نو اوس د هغې د اثبات د پاره عقلی دلیلونه ذکر کوی او په دے دلیلونو کښې غټ غټ نعمتونه ذکر کوی چه د دے پیدا کوونکے او مالک صرف الله تعالیٰ دے نو د نورو نه حاجات مه غواړئ.
په دے دلیل کښې دوه غټ نعمتونه ذکر کړی. بیا د اللیل صفت یې حذف کړے دے چه مظلمًا دے او فائده یې ورله ذکر کړے ده ځکه چه تیاره مقصد نه دے او د النهار سره یې صفت ذکر کړے دے لیکن فائده یې حذف کړے ده چه تبتغوا من فضله دے مثلاً ځکه چه دا صفت مستلزم دے ډیرو فائدو لره. او الَّيْلَ هغه کښې ریاتے په بل مخ)

رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَا إِلَٰهَ إِلَّا

رب ستاسو دے پیدا کوونکے د هر څیز دے نیشته حقدار د بندګۍ سوا

هُوَ فَأَنَّىٰ تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾ كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ

د هغه نه نو څه رنګه اړولے شئ تاسو د حق نه۔ دغه شان اړولے کیدل

الَّذِينَ كَانُوا بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾

هغه کسان چه وو د ایاتونو د الله تعالیٰ انکار یې کوو۔

اللَّهُ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه جوړه کړے ده تاسو له زمکه د ارام د پاره

وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ

او اسمان چت او شکلونه یې درکړیدی تاسو ته نو خائیسته کړیدی شکلونه ستاسو

وَرَزَقَكُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ ۚ ذَٰلِكُمُ اللَّهُ

او روزی درکړیده د پاک خوراکونو نه دغه الله تعالیٰ

ذکر کړے دے ځکه چه د میاشتو په حساب کښ شپه مقدم وی په ورځ باندے۔ او لفظ د الناس یې دوه کرته ذکر کړو د تاکید د زجر د پاره اول الناس کښ ټول انسانان مراد دی او دویم کښ اکثر مراد دی۔

۶۲:۔ په دے کښ دلیل دے او نتیجه ده د مخکښ دلیل د پاره هم۔ توحید د ربوبیت او توحید د الوهیت دواړه یې په دے ایت کښ جمع کړے دی۔ تؤفکون په هغه اوړیدلو کښ ذکر کیږی چه یو جانب حق وی او بل جانب باطل وی۔

۶۳:۔ په دے ایت کښ علت د اوړیدلو یې ذکر کړو چه انکار د ایات الله دے او دا مشترک علت دے د پاره د منکرینو۔

رَبُّكُمْ ۚ فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۴﴾

رب ستاسو دے تو برکتونو والا الله تعالیٰ دے چه رب دَ عالمینو دے۔

هُوَ الْحَيُّ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ

الله تعالیٰ ژوندے دَ همیشه، نیشته حق دار دَ بلنے بیوا دَ هغه نه نو بلئ هغه لره چه اخلاص کونکی یئ

لَهُ الدِّيْنَ ؕ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۵﴾

هغه لره دَ بلنے ، صفتونه دَ خدائیتوب خاص الله تعالیٰ لره دی چه رب دَ عالمینو دے۔

قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ اَنْ اَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ

ته اُوایه یقینًا زه منع کړے شوے یم چه بندګی اوکړم دَ هغه کسانو چه تاسو ئے بلے

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَمَّا جَآءَنِيَ الْبَيِّنٰتُ

بیوا دَ الله تعالیٰ نه هرکله چه راغلل ما ته ښکاره دلیلونه

سـ ۶۴ :۔ دا هم دلیل دے او په دے کښ څلور لوے لوے انعامات ذکر کوی هغه مخکښ انعامات زمانیه وو او دا انعامات مکانیه دی او دَ مکان سره ئے ذکر دَ مکین (انسان) هم کړے دے نو په دے ایت کښ آفاقی علوی او سفلی او انفسی نعمتونه ئے دَ پاره دَ دلیلونو یو ځائے کړے دی. فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ دا رنګ سورهٔ تغابن سـ ۳ او والتین سـ ۴ کښ هم راغلے دی ۔ الله انسان سید ها قد وقامت والا پیدا کړے دے او خوراک سکاک په لاسو باندے کوی او سترګے او پوزه او خوله ئے په ښائسته ترتیب سره په مخ باندے جوړ کړے دی او ایت دلیل دے چه په مخلوق کښ دَ انسان احسن صورت والا بل څیز نیشته دے. فَتَبٰرَكَ دا تفریع ده په تیرشوی نعمتونو باندے او برکت په معنیٰ دَ ډیروفائدو پیدا کولو دے او فائدے وخت په وخت زیاتے ولوته ویلے کیږی او دَ دے تشریح مخکښ تیره شوے ده او هرکله چه نعمتونه زمانیه دَ پاره دَ تربیت او نعمتونه مکانیه هم دَ پاره دَ تربیت دی دَ دے وجے په سـ ۶۴ او په دے ایت دواړو کښ ذٰلكم الله ربكم ذکر کړے دے.

سـ ۶۵ :۔ دا هم دلیل دے او توحید دَ الوهیت او توحید فی الدعاء ئے سره دَ حمد نه په طور دَ نتیجے سره ذکر کړے دی۔

مِنْ رَّبِّيْ ۡ وَاُمِرْتُ اَنْ اُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۶۶﴾

ذ طرفه ذ رب زما نه او حکم کړے شوے دے ما ته چه تابع اوسم رب ذ عالمینو لره ـ

هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړی یئ تاسو ذ خاورو نه بیا ذ

نُّطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ ثُمَّ يُخْرِجُكُمْ

نطفے نه بیا ذ ټکړے ذ وینے نه بیا را اوباسی تاسو

طِفْلًا ثُمَّ لِتَبْلُغُوْا اَشُدَّكُمْ ثُمَّ لِتَكُوْنُوْا

وړه وړه بیا (ر پالی تاسو) چه اورسیږئ ځوانئ خپلے ته بیا (عمر درکوی) ذ پاره ذ دے چه

شُيُوْخًا ۚ وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّتَوَفّٰى مِنْ قَبْلُ

یو داګان شئ او بعضے ستاسو نه هغه دی چه مړه کړے شی مخکښ

وَلِتَبْلُغُوْا اَجَلًا مُّسَمًّى وَّلَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾

او (رسا تی تاسو) ذ پاره ذ دے چه اورسے تاسو نیټے مقررے ته او ډ دے ذ پاره چه ذ عقل نه کار واخلئ ـ

۶۶ـ دا نتیجه ذ دلیلونو مخکنو ده یعنی دغه دلیلو نه مستلزم ذ شرک نه ذ نهی ذ پاره او ذ توحید ذ امر ذ پاره دی او دا رنګ دا جواب دے مشرکانو ته هر کله چه هغوی دعوت ورکوی بندګے ذ غیر الله ته نو دا جواب به یئ کیدیشی ـ
۶۷ـ دا هم دلیل دے په مختلفو حالتونو ذ انسان با تدا ے په وخت ذ ابتدائی پیدائش کښ نو دیته دلیل انفسی ویلے کیږی ـ
مِنْ تُرَابٍ ذ هر انسان نطفه ذ زمکے ذ اشیاؤ نه پیدا کیږی نو معلومه شوه چه تراب ماده بعیده ده او هر کله چه ذ دے حالاتو په انقلاب کښ وخت لږی نو ذ دے وجے نه ثُمَّ ثُمَّ یئ په مینځ کښ راوړے دے ـ
(سوال) سورة حج ۵ کښ ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ ذکر کړے دے نو دلته ولے ذکر نه کړو؟
(جواب) هر کله چه ذ دے ایت نه مخکښ ذ صورت ذ انسان ذکر یئ کړے دے او صورت ذ مضغے سره تعلق لری دا سے شو لکه صور مضغکم نو بیا ذکر ته ضرورت نه شو او سورة حج کښ دا سے ذکر نه وؤ کړے شوے ـ
طِفْلًا جنس دے په معنی ذ جمع سره او طفولة تا بعد ارے ته ویلے کیږی نو څو پورے چه بچے مور او پلار ته محتاج وی په خوراک او سکاک کښ او په جامه

هُوَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ ۚ فَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه ژوندی کول او مړه کول کوی نو کله چه اراده اوکړی د یو کار

فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾

نو یقیناً اُووائی هغے ته او شه نو هغه اوشی ۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُجَادِلُونَ فِي

ایا ته نه گورے هغه کسانو ته چه جګړے کوی په

آيَاتِ اللَّهِ أَنَّىٰ يُصْرَفُونَ ﴿٦٩﴾ الَّذِينَ

ایاتونو د الله تعالیٰ کښ څه رنګ اړولے کیدیشی د حق نه ۔ دا هغه کسان دی

كَذَّبُوا بِالْكِتَابِ وَبِمَا أَرْسَلْنَا بِهِ رُسُلَنَا ۖ

چه تکذیب کوی د کتابونو او د هغه خبرے چه رالیږلے دی مونږ په هغے سره رسولان زمونږ

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٧٠﴾ إِذِ الْأَغْلَالُ فِي

نو زر ده چه دوی به پوهه شی په هغه وخت چه طوقونه به په

اغوستلوکښ نودے تابع دے د موراوپلار۔ اَشُدَّکُمۡ اجتماع د قوت بدانیه اوقوتِ عقلیه ته اَشُدّ وئیلے کیږی. ثُمَّ لِتَبۡلُغُوۤا نه روانسے فعل پټ دے یعنی ثم یربیکم لتبلغوا ۔ او د اشدّ اطلاق ترڅلویښتو کالو پورے کیږی. ثُمَّ لِتَکُوۡنُوۡا شُیُوۡخًا دلته هم فعل پټ دے یعنی ثم ینقص القوة لتکونوا شیوخاً ۔ وَلِتَبۡلُغُوۤا دلته فعل مقدر دے ویفعل ذلك لتبلغوا اجلاً مسمّی، مراد د دے نه اجل مقرره د مرګ دے۔

س ۶۸ :۔ داهم دلیل دے مخکښ خاص ذا تسا نا توحیات اوممات ذکرشواوپیدے کښ عام ذکرکوی او په فَاِذَا قَضٰۤی سره اشاره کوی چه دا کارونه الله تعالیٰ ته ډیر اسان دی ۔

س ۶۹ تا ۷۰ :۔ دا بیا زجر دے مجادلینو ته یعنی دغه دلیلونه چه تیرشول په دے کښ جګړے کوی اوچیل شرک تابتـوی او د دے مجادلینو حال یې بیان کړے دے. بِالۡکِتٰبِ جنس کتابونه الهیه ترینه مراد دی یاصرف قران مراد دے وَبِمَاۤ اَرۡسَلۡنَا بِهٖ رُسُلَنَا مراد د دے نه مسئله د توحید ده چه هغه په سورة انبیاء س ۲۵ اوسورة نحل س ۳۶ کښ ذکر ده۔

أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ ۖ يُسْحَبُونَ ﴿٧١﴾

ستونو د دوی کښې وی او زنځیرونه (په خپو کښې وی) راښکلے کیږی په

فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ ﴿٧٢﴾

په ایشیدلو اوبو کښې بیا به په اورکښې ړوانه کړے شی.

ثُمَّ قِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٧٣﴾

بیا به اُوئیلے شی دوی ته کوم ځائے دی هغه کسان چه تاسو شریکول د الله تعالیٰ سره

مِن دُونِ اللَّهِ ۖ قَالُوا ضَلُّوا عَنَّا بَل

سوا د الله تعالیٰ نه دوی به اُوائی روک شو زمونږ نه بلکه

لَّمْ نَكُن نَّدْعُوا مِن قَبْلُ شَيْئًا ۚ

نه دے رابللے مونږ د دے نه مخکښې هیڅ څیز.

ملک نه تر ملک پورے په دے ایاتونوکښی تخویف اخروی ذکرکوی دپاره د مجادلینو او دا تخویف مشتمل دے په لس امورو باندے. ۱ اِذِ الْاَغْلٰلُ فِیْۤ اَعْنَاقِهِمْ اذ په معنیٰ د اذا سره دے د دے وجے نه چه دا حالات راتلونکی دی لیکن قران کښی اکثر د قیامت حالات په الفاظو د ماضی سره ذکرکوی د وجے د یقین نه ۲ وَالسَّلٰسِلُ، د دے دوه معنے دی اول دا چه عطف دے الاغلال باندے په طریقه د عطف مفرد سره په مفرد باندے یعنی سلاسل به هم د دوی په ستونوکښی وی دویمه معنیٰ دا ده چه عطف د جملے دے په جمله باندے او خبر ئے حذف دے یعنی سلاسل به د دوی په خپوکښی واچولے شی.
۳ یُسْحَبُوْنَ د السلاسل سره متعلق دے نو بیا پته دے یعنی راښکلے کیږی به په دغه زنځیرونو سره یا مطلق راښکل مراد دی. ۴ فِی الْحَمِیْمِ متعلق دے د یسحبون سره او یا مستقله جمله ده په تقدیر سره چه یدخلون فی الحمیم.
۵ ثُمَّ فِی النَّارِ یُسْجَرُوْنَ یعنی په شان د خاشاک به په دوی سره اور توده وے شی یا معنیٰ دا چه رو تلوے به شی په اورکښی یا په معنیٰ د ډکولو سره دے یعنی ډکولے به شی په دوی سره اور د جهنم ۶ ثُمَّ قِیْلَ لَهُمْ اه دا تپوس د پاره د سخت زجر دے هغه چا ته چه په دنیا کښی شرک فی الدعا ئے کړے دے.
اَیْنَ مَا کُنْتُمْ تُشْرِکُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ یعنی کوم ځائے دی چه اواز کړے ورته

كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۷۴﴾ ذٰلِكُمْ

دغه شان په خطا کوی الله تعالیٰ کافرانو لره - دا په

بِمَا كُنْتُمْ تَفْرَحُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ

سبب ددے چه تاسو خوشحالی کوله په ملک کښ به غیر

الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ تَمْرَحُوْنَ ﴿۷۵﴾ اُدْخُلُوْٓا

دَ حق دَلویئ نه او په دے وجه چه تاسو لوئی کوله - داخل شئ

اَبْوَابَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ فَبِئْسَ

دروازو دَ جهنم ته همیشه به یئ په هغے کښ نو ناکاره دے

مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ ﴿۷۶﴾ فَاصْبِرْ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

ځائے دَ اوسیدلو دَ لوئیئ کوونکو - تو صبرکوه یقیناً وعده دَ الله تعالیٰ

چه تاسو دَ دے عذاب ته بچ کړی نو دوی به اول جواب اوکړی ضَلُّوْا عَنَّا
روک شول زمونږ نه او دا جمله مستلزم ده دَ دوی اقرار کولو لره په شرک دَ دوی
باندے نو بیا به یئ خیال راشی چه دا خو مونږ بد کار اوکړو چه دَ ځان نه مو
اقرار اوکړو نو دویم جواب به اوکړی بَلْ لَّمْ نَكُنْ نَّدْعُوْا مِنْ قَبْلُ شَيْئًا یعنی
انکار به اوکړی دَ شرک فی الدعا نه لکه سورة انعام ۲۳ کښ تیر شویدی.
۷۴ كَذٰلِكَ يُضِلُّ مراد دَ اضلال نه په جواب ورکولو کښ گډ وډ کول دی لکه
چه اوس گډ وډ شول چه کله اقرار کوی او کله انکار، او دا دَ دوی شرمول دی.
تَفْرَحُوْنَ فرق دَ فرح او دَ مرح دا دے چه اول دَ زړه سره تعلق لری او دویم
دَ ظاهر سره تعلق لری، او دویم قول دَ دے برعکس دے قرطبی دویم فرق ته
اشاره کړے ده ویلے دی په معنیٰ دَ تفرحون کښ مراد دا دے چه ښکاره کوله تاسو
خوشحالی په گناه کولو او په ډیرو مالونو او ډیرو نوکرانو او په صحت او عافیت سره"
نو په دے کښ عرسونه دَ پیرانو هم داخل دی چه په شرک کولو سره خوشحالئ
ښکاره کوی. او تَمْرَحُوْنَ دا دے چه په رفتار او گرځیدلو کښ تکبر او لوئی کوی لکه
لاتمش فی الارض مرحا ۷۶ اُدْخُلُوْٓا اَبْوَابَ جَهَنَّمَ مراد ترینه په طریقه دَ تقسیم سره
دی نو بعض به دروازے ته داخل شئ او بعض بلے ته ۷۶ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا فَبِئْسَ
مَثْوَى الْمُتَكَبِّرِيْنَ - مثوی هغه ځائے دے چه په هغے کښ همیشه اقامت وی او په
بے اختیاره ځائے کښ استعمالیږی.

حَقٌّ ۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعْضَ الَّذِي نَعِدُهُمْ

حقه ده تو یا به او خایو موتږ تاته بعضې هغه عذاب چه وعده کوو موتږ دَ دوی سره

أَوْ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ ۝ وَلَقَدْ

یا به وفات کړو تا تو موتږ ته به دوی راګرځی - او یقیناً

أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن

لیږلی دی موتږ رسولان مخکښ ستا نه بعضې دَ دوی هغه څوک دی

قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ

چه بیان کړیدی موتږ په تا باندے او بعضې هغه دی چه نه دی بیان کړی موتږ

عَلَيْكَ ۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ

په تا باندے او نیشته په اختیار دَ رسول کښ چه راوړی هیڅ معجزه

إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ فَإِذَا جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ قُضِيَ

مګر په حکم دَ الله تعالیٰ هغه وخت چه راشی حکم دَ الله تعالیٰ فیصله به اوکړیشی

سے: هرکله چه حال دَ مجادلینو بیان شو نواوس تسلّی ورکوی نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په پنځو طریقو سره اول امرورکوی په صبرکولو سره په جدال اوبه تورو اذیتونو دَ مجادلینو باندے دویم إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ دا وعده په سلام کښ تیرشویده دریم جواب دَ سوال دَدی چه په موتږ باندے په سبب دَ جدال کولو عذاب وَلے نه راځی جواب اوشو په دے قول سره چه فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ حاصل جواب دادے چه عذاب به په دوی باندے ضرور راځی یا به ستا په ژوند کښ راشی نو ته به ئې اوویني یا به ستا دَ وفات نه روستو راشی نو ته ئې خو لیدلے لیکن قیامت کښ به اووینې ځکه چه دَ دوی رجوع کیدی موتږ ته په قیامت کښ - او دَ إِمَّا جواب پټ دے (فذاك) سره.
او فَإِلَيْنَا يُرْجَعُونَ قائم مقام دے دَ جواب دَ نتوفینك یعنی فنعذ بهم عذابًا شدیدًا او دا سے په سورة یونس سلام او سورة رعد سلام او سورة زخرف سلام سلام کښ ذکردی.

بِالْحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْمُبْطِلُونَ ﴿٧٨﴾ اَللّٰهُ

په حقه سره او ښکاره شو دغه وخت تاوان ذ باطل پرستو خلقو . الله تعالیٰ

الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَنْعَامَ لِتَرْكَبُوا مِنْهَا

هغه ذات دے چه پیدا کړیدی تاسو لره ځاروی ذ دے ذپاره چه سورلی کوئے په بعضو ذ هغے نه

وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿٧٩﴾ وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَلِتَبْلُغُوا

او بعضے ذ هغے نه تاسو خورئے . او تاسو لره په هغے کښ فائدے دی او ذ دے ذپاره چه اورسیږئے

عَلَيْهَا حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ وَعَلَيْهَا وَ

په هغے باندے سواره هغه حاجت ته چه په سینو ستاسو کښ دے او په هغے باندے او

عَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٨٠﴾ وَيُرِيكُمْ آيَاتِهِ

په کشتو باندے پورته کولے شئے تاسو . او ښائی تاسو ته دلیلونه خپل

۷۸ :- دا ځلورمه تسلّی ده په ذکر ذ تکالیفو ذ انبیاؤ سابقینو سره اشارةً او پنځمه تسلّی جواب ذ سوال ذ منکرینو دے چه ته رسول یئے نو مونږ ته هغه معجزے راوړه کوم چه مونږ طلب کوو جواب داد ے وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ الخ او هم داسے ذکر شویدی په سورة رعد ۳۸ او سورة ابراهیم ۱۱ کښ . او په دے ایت کښ دلیل نقلی اجمالی دے ذ انبیاء علیهم السلام نه وَخَسِرَ هُنَالِكَ خسران ذدوی په اصل کښ په وخت ذ ناکاره عملونو کښ وؤ لیکن په هغه وخت دوی ته خپل خسران نه ښکاره کیدلو او په وخت ذ عذاب کښ خسران ښکاره شو ذ دے وجے نه ذ هُنَالِكَ تخصیص یئے اوکړو .

۷۹ ۸۰ ۸۱ :- په دے ایاتونو کښ نور دلائل عقلیه په ذکر ذ نعمتونو سره ذکر کوی په اول ایت کښ یئے ذ ځاروؤ نه دوه لوئے فائدے ذکر کړیدی چه سورلی او خوراک دے . لِتَرْكَبُوا مِنْهَا لفظ ذ منها کښ اشارة ده چه ټول ځاروی ذپاره ذ سورلئے کولو نه دی او دارنګ حلال ځاروی ټول نه خوړلے کیږی . او دویم کښ یئے درے نعمتونه ذکر کړل . مَنَافِعُ ذ وړیو او وړئے نه ډیرے فائدے دی او دارنګ ذ پیؤ (شودو) نه ډیرے فائدے او ذ هډوی ذ څرمنو او هډوکو نه ډیرے فائدے دی . وَلِتَبْلُغُوا عَلَيْهَا حَاجَةً فِي صُدُورِكُمْ په دے کښ اشاره ده سخت حاجت ته چه ذ هغے ذ وجے (ریاتے په بل مخ)

فَاَیَّ اٰیٰتِ اللّٰہِ تُنْکِرُوْنَ ﴿۸۱﴾ اَفَلَمْ یَسِیْرُوْا

ایا نو دوی نه کرځي تاسو انکار کوئ . نو کوم یو د دلیلونو د الله تعالیٰ نه

فِی الْاَرْضِ فَیَنْظُرُوْا کَیْفَ کَانَ عَاقِبَۃُ

په ملک کښې چه اوګوري چه څه رنګ شو انجام

الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ کَانُوْۤا اَکْثَرَ

د هغه کسانو چه د دوی نه مخکښې وو هغوی وو ډیر

مِنْهُمْ وَاَشَدَّ قُوَّۃً وَّاٰثَارًا فِی الْاَرْضِ

د دوی نه او زیات په قوت کښې او په نښو جوړولو سره په زمکه کښې

فَمَاۤ اَغْنٰی عَنْهُمْ مَّا کَانُوْا یَکْسِبُوْنَ ﴿۸۲﴾

نو دفع نه کړو د دوی نه (عذاب) هغه کارونو چه دوی کول .

ستاسو سینې تنګې دی چه دے حاجت ته په خرګله وررسیږم نو د اوښانو او اسونو په ذریعه سره اورسیږئ . وَ عَلَى الْفُلْكِ د کشتۍ سره لفظ د فی او علیٰ دواړه استعمالیږی لیکن دلته د مناسبت د علیها په وجه سره د عَلٰی لفظ ذکر کړے شو .

فائده:- لترکبوا او لتبلغوا او تحملون کښې خوظا هرًا یو فائده ده لیکن حقیقت کښې فرق دے هغه دا دے چه رکوب نه مراد سفر د سورلۍ دے د هجرت او جهاد اوطلب د علم د پاره او د حاجة نه مراد امور دنیویه دی لکه تجارت کول نو دا دواړه اختیاری امور دی او ضروری هم دی د دے وجے نه ئې په حرف د لام او په صیغه د معلوم سره ذکر کړل او تحملون نه مراد مجبوری سورلی ده لکه په حال د مرض کښې د یو ځائے نه بل ځائے ته سفر کول نو دا غیر اختیاری ده نو په صیغه د مجهول سره ئې ذکر کړه او خوراک د غوښے او دا سورلی چه روستو ذکر شوه دا دواړه مقصدی امور نه دی نو بغیر د لام نه ئې ذکر کړل او په روستی ایت کښې بے شماره نعمتونو ته اشاره ده په دے لفظ سره چه و یریکم اٰیاته .

۸۲ ـ مخکښې ایاتونو کښې ایات د نعمتونو ذکر کړل نو اوس ایات د عذاب ذکر کوی او دا تخویف دنیوی دے . فَيَنْظُرُوْا یعنی سیل او کړئ په قصو د عبرت اغستلو سره نو نظر د فکر اوکړئ . اَكْثَرَ مِنْهُمْ ډیر وو په شماره کښې او په مال کښې وَاَشَدَّ قُوَّةً په بدنونو سره زیات قوت والا وو وَاٰثَارًا فِی الْاَرْضِ او چتے بنګلے

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ فَرِحُوْا

دَ هر کله چه راغلل دوی ته رسولانو دَ دوی ښکاره حکمونه نو لوئی اوکړه

بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ وَحَاقَ بِهِمْ مَّا

دوی په هغه علم چه دَ دوی سره وو او راګیر کړه دوی لره هغه څیز

كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۸۳﴾ فَلَمَّا

چه وو دوی په هغې پورے توقے کولے . نو هر کله

رَاَوْا بَاْسَنَا قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗ

چه دوی اولیدو عذاب زمونږه اُویل دوی ایمان راوړے دے مونږ په الله تعالی باندے په یووالی دَ هغه

او آبادے کول په غرونو کښې او په دیکښې اشاره ده قوم فرعون ته چه په دے سورت کښې دَ هغوی حال تیرشو یدے فَمَآ اَغْنٰی. ما نافیه او استفهامیه دواړه کیدے شي نو معلومه شوه چه دَ عذاب دَ الله تعالی نه دَ دنیا مال وجاه وغیره نجات نشي ورکولے .

ف ۸۳ :- په دے کښې سبب دَ عذاب ذکر کوی چه هغه تکذیب دَ پیغمبرانو دے ، فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ، ضمیرونه راجع دی کافرانو ته او دَ علم نه مراد دنیوی علمونه دی لکه فلسفه ریاضی سائنس او طب وغیره لکه چه بقراط یا سقراط حکیم ته ویلے شوے وو چه ته موسی علیه السّلام ته ولے نه ورځے نو هغوی اُویل چه مونږ مهذب قوم یو زمونږ دَ چا تهذیب او هدایت ته حاجت نیشته او دارنګ جالینوس حکیم عیسی علیه السّلام ته ویلے وو چه ته مونږ ته نه یے رالیږلے شوے مونږ خو ستانه ښه پوهیږو . یا دَ علم نه مراد دَ دوی شبهات کفریه او شرکیه او بدعیه دی چه دوی ګمان کړے وو چه دا علم دے لکه استدلال دَ دوی په اتباع دَ آباؤ خپلو سره یا په دے قول سره چه لوشاء الله ما اشرکنا یا په دے قول سره چه من يحيي العظام وهي رميم وغيره .

بعضو مفسرینو ویلے دی چه عندهم ضمیر انبیاؤ ته راجع دے او فرحوا ضمیر کافرانو ته راجع دے او مراد دَ فرح نه خندا او توقے مسخرے کول دی ، او دا آیت دلیل دے پدے چه چا ته قرآن او صحیح حدیث پیش کړے شي او دَ هغې په مقابله کښې نور کتابونه او دلیلونه پیش کوی یا په خپل تقلید باندے ټینګ وی نو دغه سړے دَ هغکنو باطل پرستو په طریقه باندے روان دے

وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهٖ مُشْرِكِيْنَ ﴿۸۴﴾

او انکار کوؤ مونږ دَ هغه معبودانو نه چه شریکان کړي مو وو دَ الله تعالیٰ سره۔

فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ اِيْمَانُهُمْ لَمَّا

نو نفع نه ورکوله دوی ته ایمان راوړلو دَ دوی کوم وخت

رَاَوْا بَاْسَنَا ؕ سُنَّتَ اللّٰهِ الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ

چه اولیدلو دوی عذاب زمونږ پشان دَ طریقې دَ الله تعالیٰ هغه چه تیره شوې ده

فِيْ عِبَادِهٖ ۚ وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾

په بندګانو دَ هغه کښې او تاوان ښکاره شو په دغه وخت دَ کافرانو۔

۸۴:۔ هرکله چه کفّار پوهه شول په وخت دَ عذاب کښې چه بل هیڅ څیز فائده نشي ورکولے بلکه معبودان دَ دوی هم نجات نشي ورکولے نو دوی په دغه وخت کښې ایمان په توحید باندے راؤړو لکه چه فرعون دا سے کار کړے وؤ۔
وَكَفَرْنَا دا کفر په معنیٰ دَ انکار سره دے كُنَّا بِهٖ په سبب دَ عبادت کولو دَ هغوی مونږ مشرکان شوے وو۔

۸۵:۔ دا ایمان اضطراری مجبوری دے دا قبول نه دے۔ فَلَمْ يَكُ يَنْفَعُهُمْ لفظ دَ يَكُ ئې دَ تاکید دَ نفي دَ پاره راوړے دے۔ سُنَّتَ اللّٰهِ مفعول مطلق دے دَ پاره دَ فعل محذوف سَنَّ الله تعالیٰ سنة یا مفعول بِهٖ دے دَ پاره دَ فعل محذوف یعني احذروا (راویریږئ) او دَ دے سنّت نه مراد دا دے چه په حالت دَ عذاب راتللو کښې ایمان نه قبلیږي وَخَسِرَ هُنَالِكَ الْكٰفِرُوْنَ په ۷۸ کښې ئې المبطلون اوئیل او په دے ایت کښې الکافرون وجه دَ فرق دا ده چه په هغه ایت کښې قضي بالحق ذکر شویوؤ او دَ حق په مقابله کښې ابطال ذکر کیږي او په دے ایت کښې ایمان ذکر دے او دَ ایمان په مقابله کښې کفر ذکر کیږي۔

تفسیر دَ سورة غافر په فضل دَ الله تعالیٰ سره
ختم شو۔

سُوْرَةُ حٰمٓ السَّجْدَةِ ۴۱ مَكِّيَّةٌ ۶۱ — بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ — اٰيَاتُهَا ۵۴ رُكُوْعَاتُهَا ۶

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلٌ مِّنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾

الله تعالیٰ دَ دے په مراد پاندے پوهیږي. نازلول دي دَ طرف دَلوی مهربان رحم کوونکي نه ـ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة حٰمٓ سجده او دَ دے نور نومونه دا دي. فصلت، المصابيح، الاقوات، سجدة المؤمن ـ

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په ډيرو طريقو سره دے. اوله طريقه دا ده چه په تيرشوے سورت کښ رد دَ شرک في الدعا وو نو په دے سورت کښ دفع دَ درے او هامو دَ متکرينو ده. دويمه داچه په سورة مؤمن کښ نهه صفتونه دَ نازلوونکي دَ قرآن وو چه الله تعالیٰ دے نو په دے سورت کښ نهه احوال دَ منزّل (قرآن) دي. دريمه طريقه دا چه هلته دَ تخويف دنيوي يوه نمونه وه نو په دے سورت کښ دوه نمونے ذکر کوي، څلورمه داچه په هغه سورت کښ ئے تفصيل دَ دعوت دَ داعي (رجل مؤمن) ذکر کړو نو په دے سورت کښ طريقے او اداب دَ دعوت ذکر کوي، پنځمه داچه په هغه سورت کښ زجرونه وو په مجادليتو باندے نو په دے سورت کښ دَ هغوي شبهات باطله ذکر کوي چه دا دَ دوي جدال دے، شپږمه طريقه دا ده چه په هغه سورت کښ انکار دَ مشرکينو ذکر دے دَ شرک في الدعاء نه په ورځ دَ قيامت نو په دے سورت کښ په هغوي باندے شهادت دَ جوارحو ذکر کوي.

دعوىٰ دَ دے سورت: اثبات دَ توحيد دے په دفع دَ درے شبهاتو سره. او په اته عقلي دليلونو سره او په رد دَ اقسامو دَ شرک سره (شرک في العبادة او في الدعا او في العلم) او په پنځلس اسماء الٰهيه سره، او په ډير زجرونو او تخويف دنيويه او اخرويه سره.

خلاصه دَ سورت دا ده چه دا سورت تقسيم دے درے بابونو ته ـ اول باب تر ۳۲ پورے دے په دے کښ اول ترغيب دے قرآن ته په ذکر دَ نهه حالاتو دَ قرآن او زجر دے په اعراض دَ قرآن سره (ايات په ايل مخ)

كِتٰبٌ فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا لِّقَوْمٍ

کتاب دے جدا جدا بیان شویدی ایاتونه ددهٔ قرآن دے عربی ژبے والا دپاره د هغه قوم

يَّعْلَمُوْنَ ۝۳ بَشِيْرًا وَّنَذِيْرًا ۚ فَاَعْرَضَ

چه پوهیږی زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے نو مخ اوګرځوهٔ

اَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ۝۴ وَقَالُوْا

ډیرو خلقو نو دوی نه اوری او دوی وائی

قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ اِلَيْهِ وَفِيْٓ

زړونه زموږ په پردوکښ دی د هغے نه چه ته موږ بلے هغے ته او په

بیا شبهه د منکرینو ده او جواب د هغے دے بیا څلور عقلی دلیلونه دی بیا تخویف دنیوی په ذکر د عاد او د ثمود سره او تخویف اخروی تفصیلی دے۔

(تفسیر)

۱ خبر د مبتدا محذوف دے یعنی هذا حٰمٓ۔ دا نوم د قرآن یا نوم د سورت دے یا د پاره د اعجاز دے۔

۲ ۳ ۴ دا ترغیب دے په ذکر کولو د ښه احوالو د قرآن تنزیل دا خبر د مبتدا محذوف دے او دا مصدر په معنیٰ د مفعول دے۔ من الرحمٰن الرحیم اشاره ده چه دا قرآن د الله تعالیٰ د رحمتونو ذریعه ده۔ کتاب بدل دے د تنزیل نه او دا لفظ دلالت کوی چه جامع دے۔ فصلت اٰیاته احکام او امثال او دلیلونه او تخویفات او بشارتونه ټول پکښ جدا جدا په تفصیل سره دی۔ قرانا یعنی جامع دے یا مجموع دے یا لوستلے شوی دے۔ عربیا عربی ژبے والا دے یعنی واضح بیان والا دے ځکه چه ع رب دلالت کوی په وضوح یا ندے۔ لقوم یعلمون چه علم لری چه دا منزّل من الله دے یا علم د توحید لری یا علم د لغت عربی لری نو د هغوی د پاره فائده ورکوونکے دے۔ بشیرا د تصدیق کوونکو د پاره بشارتونه ورکوی۔ نذیرا د مخالفینو د پاره په تخویفاتو باندے مشتمل دے۔ فَاَعْرَضَ دا زجر دے فَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ دا تفسیر د اعراض دے یا معنیٰ دا چه اعراض کوی د توحید نه نو قرآن د دے وجے نه اوری۔

اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ

غوږونو زموږ کښې درد توالے دے او په مینځ زموږ او په مینځ ستا کښې پرده ده

فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ ۞ قُلْ اِنَّمَآ

نو ته خپل کار کوه یقیناً مونږ خپل کار کوونکي یو ته اُووایه یقیناً

اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰٓى اِلَيَّ اَنَّمَآ اِلٰهُكُمْ

زهٔ بشر یم ستاسو پشان وحی کیدے شی ماته چه یقیناً حقدار د بندګئ ستاسو

اِلٰهٌ وَّاحِدٌ فَاسْتَقِيْمُوْٓا اِلَيْهِ وَاسْتَغْفِرُوْهُ ؕ

یو ذات دے نو برابر شئ د هغه طرف ته او بخنه غواړئ د هغه نه

ف:- دا عطف دے په اعراض یا په لا یسمعون یا دا بے او دا سبب د اعراض ذکر کوی او دا اوله شبهه ده د متکرینو حاصل شبه دا دے چه ستا دا مسئلے زمونږ د پوهے نه اوچتے دی نو مونږ ته دا بیان مکوه. فِیْٓ اَکِنَّةٍ په دے لفظ کښې ډیر مبالغه ده په نسبت د علی قلوبهم اکنة سره یعنی دا زړونه دننه په پردو کښې انغښتلے شو یدی هیڅ وت او روږنه نیشته وَقْرٌ کنایه ده هغه مقصود د مشرکانو او مبتدعینو نه چه غوږونه د جاهلانو ئے د حق او ریدلو ته بند کړیدی. وَمِنْۢ بَيْنِنَا وَبَيْنِكَ حِجَابٌ په دے کښې ډیر تاکید دے یعنی حجاب زمونږ او ستا په مینځ کښې چه خرمره فاصله ده هغه ټوله بنده کړے ده او دا درے واړه (اکنة، وقر، حجاب) په طریقه د تشبیه سره دی اشاره ده چه د پوهیدلو اسباب زړونه او غوږونه او سترګے دی او هغه درے واړه زمونږه ته ستا په مسئلو کښې هیڅ کار نه کوی. او حجاب نه مراد مخالفت د دین دے یا تفاوت د جهل او د علم دے. فَاعْمَلْ اِنَّنَا عٰمِلُوْنَ یعنی د خپل دین په مقتضی باندے کار کوه او مونږ پریږده چه پخپله بخوانے طریقه عمل کوو یا ته کوشش کوه زمونږ په مقابله کښې او مونږ به ستا په مقابله کښې محنت کوو.

وَوَيۡلٌ لِّلۡمُشۡرِكِيۡنَ ۝٦ الَّذِيۡنَ لَا يُؤۡتُوۡنَ

او تباهي ده مشركانو لره هغه كسان چه نه وركوي

الزَّكٰوةَ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ كٰفِرُوۡنَ ۝٧

زكٰوة او دوى د اخرت نه انكار كوونكي دي.

سـ :- دا جواب دے د دغه شبهے - حاصل د جواب دا دے چه زما په خبرو باندے په هغه ستاسو عقلونو او غوږونو كار نه كولے او دا رنګ زه به تاسو ته هغه نه شكاره كيدلے چه زه ملك يا پيرے وے نوزه خو ستاسو غوندے بشر يم - او بشر خو د بل خبرے اوري او بوبل لره وئيلي او د يو بل په خبرو باندے پوهيږي - يُوۡحٰۤى اِلَيَّ يعنى زما او ستا فرق خو صرف په وحى او عدم وحى كښ دے د بشريت په تقاضا كښ نيشته - اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ دا خلاصه د ټولے وحى ده يعنى دا خو دا سے مسئله ده چه په عقل او نقل سره ثابته ده او مختصره خبره ده نو بيا پرے ولے نه پوهيږئ - فَاسۡتَقِيۡمُوۡۤا اِلَيۡهِ پس د جواب نه دعوت دے توحيد ته - معنىٰ دا چه كلك شئ په توحيد باندے مه ګكيږئ هيڅ قسم شرك كولو ته واستغفروه يعنى د تير شوے شرك كولو نه استغفار اوكړئ نو الله تعالىٰ به تاسو معاف كړى - وَوَيۡلٌ لِّلۡمُشۡرِكِيۡنَ دا علت دے د استغفار يعنى د شرك نه توبه د دے وجے نه او باسئ چه د تباهئ نه بچ شئ -

سـ :- دا اوصاف قبيحه د مشركانو ذكر كوى روستو د وصف د شرك نه اَلَّذِيۡنَ لَا يُؤۡتُوۡنَ الزَّكٰوةَ يعنى دا سے عمل نه كوى چه د دوى نفس او مال په هغے سره پاك شي نو دلته زكوٰة په عامه معنىٰ سره دے لكه چه د ابن عباس رضى الله عنهما نه نقل دے او دا وصف ئے د دے وجے نه په ذكر سره خاص كړو چه مشركان د غير الله په نوم باندے نذرونه وركوى او منجورانو ته ئے وركوى او په ګناهونو كښ خرچ كوى ليكن د الله تعالىٰ په نوم باندے په مسكينانو باندے خرچ نه كوى - او په دے ايت كښ اشاره ده چه كافرانو ته به سره د كفر نه په نورو ګناهونو باندے هم عذاب وركوى - زكوٰة نه وركول يو په طريقه د انكار سره دى نو دا خو كفر دے دويم په طريقه د ترك العمل دے يعنى انكار د فرضيت نه نه كوى ليكن نه ئے وركوى نو په دے سره كفر نه راځى ليكن عمل د كافرانو دے او د هغوى سره مشابهت دے -

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ

يقيناً هغه كسان چه ايمان ئې راوړے دے او عملونه ئې كړيدى د سنت برابر دوى لره

أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۞ ٨ قُلْ أَئِنَّكُمْ لَتَكْفُرُونَ

ثواب دے بے انتها . ته أووايه آيا تاسو كفر كوئې

بِالَّذِي خَلَقَ الْأَرْضَ فِي يَوْمَيْنِ

په هغه ذات باندے چه پيدا كړيده ځمكه په مقدار د دوه ورځو كښې

وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ۚ ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ۞ ٩

او جوړوئې تاسو هغه لره شريكان دغه ذات رب د عالمينو دے .

وَجَعَلَ فِيهَا رَوَاسِيَ مِن فَوْقِهَا وَبَارَكَ

او جوړ كړيدى په ځمكه كښې پاخه غرونه د پاسه د ځمكې نه او بركتونه ئې اچولى دى

فِيهَا وَقَدَّرَ فِيهَا أَقْوَاتَهَا فِي أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ ۚ

په ځمكه كښې او اندازه كړيدى په ځمكه كښې روزئې (قوتونه) د ځمكې په اندازه د پوره كيدلو د څلورو ورځو كښې

س۸:۔ دا بشارت او ترغيب دے ايمان او عمل صالح ته .

غَيْرُ مَمْنُونٍ ختميدونكے نه دے يعنى هميشه دے او دغه اجر جنت دے معلومه شوه چه جنت به نه فنا كيږى يا زياد لے شوے به نه وى ، يا نقصان به په كښې نه راځى .

س۹:۔ روستو د جواب د سوال او د ترغيب د توحيد نه اثبات د ځمكې دے په څلورو عقلى دليلونو سره دا اول دليل دے چه په دے كښې پيدائش د ځمكې ذكر كړے دے په مقدار د دوه ورځو كښې چه ورځ د اتوار او د گل وه يعنى هغه وخت يو داسے مقدار وو يا نوبت وو چه اوس د ځمكې نه تعبير كيدے شى په دوه ورځو سره .

وَتَجْعَلُونَ لَهُ أَندَادًا ، دا تفسير د كفر بالله دے . ذَٰلِكَ رَبُّ الْعَالَمِينَ ، اشاره ده چه خالقيت مستلزم د ربوبيت دے .

سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ ﴿۱۰﴾ ثُمَّ اسْتَوٰۤى اِلَى السَّمَآءِ

برابر دَپاره دَ محتاجو خلقو . بیا برابرشو طرف دَ آسمان ته

وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْاَرْضِ ائْتِيَا

او هغه لوگے وُه نو اُوویل یې هغه ته او زمکے ته راشئ

۱۰ . دا دویم دلیل عقلی دے په دے کښې درے صفات دَ تصرف الٰهی ذکر کوی اول جَعَلَ فِيْهَا رَوَاسِيَ مِنْ فَوْقِهَا لفظ دَ فِيْهَا دلالت کوی چه غرونه په زمکه خخ دی لکه میخونو غوندے او مِنْ فَوْقِهَا یعنی دَ زمکے دَپاسه یې دنگ دنگ ښکاره کړے دی دَپاره دَ دے چه مخلوق یې اُوینی او فائده ترینه واخلی . دَ دے وجے فرمائیلے دی په سورة نبا کښې " والجبال اوتاداً " او په سورة مرسلات ۲۷ کښې " شامخات " . دویم وَبٰرَكَ فِيْهَا ضمیر راجع دے غرونو ته چه په هغے کښې او نے لپه کانو ته دَ معدنیاتو وغیره دی یا ضمیر راجع دے زمکے ته دریابونو نهرونو وغیره ته اشاره ده دا ټول دائمی منافع دی تر قیامت پورے او برکت کښې هم معنیٰ دَ دوام او دَ ډیروالی دَ فائدو ده ، دریم وَقَدَّرَ فِيْهَا اَقْوَاتَهَا په دے سره هغه منافع مراد دی چه دَ انسانانو دَ قوت (روزئ) سره تعلق لری او دا قوت دَ زمکے او غرونو نه پیدا کیږی دَ دے وجے نه اضافت یې دَ هغے ضمیر ته کړے دے او قَدَّرَ لفظ صریح دلالت کوی په مسئله دَ تقدیر باندے .

فِىْ اَرْبَعَةِ اَيَّامٍ په دے کښې دوه ورځے مخکنئ شمار دی یعنی غرونه نهرونه وغیره یې په دوه ورځو کښې پیدا کړے دی چه مخکنو دوه ورځو سره جمع شی نو څلور شوے او فِىْ يَوْمَيْنِ یې اونه وئیل ځکه وهم پیدا کیدلو چه دا بعینه مخکنئ دوه ورځے دی او که اٰخَرِيْنِ یې ورسره ویل نو کلام اوګد ییدلو او بل دا چه دَ سَوَآءً تعلق دَ څلورو ورځو سره دے نو که یومین یې ویلے وے نو بیا دا تعلق نه معلومیدلو .

سَوَآءً لِّلسَّآئِلِيْنَ سَوَآءً په معنیٰ دَ مستویة حال دے دَ اربعة ایام نه یعنی په داسے حال کښې چه دا څلور ورځے پورہ دی کمے په کښې نیشته یا سواءً ۲ مفعول مطلق دے په معنیٰ دَ استوت سواءً او هغه جمله حال دے دَ اربعة نه یا ۳ دَ اقواتها نه .

لِلسَّآئِلِيْنَ متعلق دے ۱ دَ قدّر سره او سائلین په معنیٰ دَ طالبین دے یعنی محتاج یا خبر ۲ دے دَ مبتدا محذوف هٰذَا لِلسَّآئِلِيْنَ یعنی دا تفصیل دَپاره دَ هغه چا دے چه تپوس نه کوی په باره دَ دے ورځو کښې . یا متعلق دے په سواء پورے یعنی په داسے حال کښې چه دا څلور ورځے برابر دی په شمار کښې چه علم دَ

طَوْعًا أَوْ كَرْهًا ؕ قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ⑪

په خوښه سره یا په ناخوښه دواړو وېل راغلو موږ په خوښه سره .

فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوَاتٍ فِي يَوْمَيْنِ

نو پوره یې کړه هغه اووه اسمانونه په اندازه د دوه ورځو کښې

وَأَوْحٰى فِي كُلِّ سَمَآءٍ أَمْرَهَا ؕ وَزَيَّنَّا

او وحې اولیږله په هر اسمان کښې د کار د هغې او ښائسته کړیدلې موږ

السَّمَآءَ الدُّنْيَا بِمَصَابِيحَ ۖ وَحِفْظًا ؕ

اسمان نزدې په چراغونو سره او ساتنه کړیده موږ د هغې

سائلینو سره دے چه هغه اهل کتاب دی ځکه چه د هغوی په علم کښې هم
څلور ورځې دی۔

سلسله دا دریم دلیل عقلی دے۔ استوٰی صفت د الله تعالیٰ دے او لفظ الی السماء د پاره د علو (اوچت والی) دے نو معنٰی معلومه ده چه اوچت شو اسمان ته، لیکن کیفیت یې موږ ته معلوم نه دے یا استوٰی په معنٰی د قصد او د پوره ارادے کولو ده یعنی پوره توجه یې اوکړه او دا هم صفت د الله تعالیٰ دے۔ وَهِيَ دُخَانٌ مفسرینو ویلې دی چه عرش د الله تعالیٰ د اسمانونو د پیدائش نه وړاندے په اوبو باندې وو نو په هغه اوبو کښې الله تعالیٰ حرکت او اضطراب پیدا کړو نو د هغې نه پیو براس پیدا شو هغې ته یې دخان اُوویل یعنی پشان د دخان (لوګی) تور تور اجزاء وو۔ فَقَالَ لَهَا دا قول دخان ته خطاب دے او مراد دا دے چه اے دخان زما حکم ته تابع شه چه اسمانونه درنه په څلور حکم سره جوړ وم او زمکې ته یې اُوویل چه ستا نه د مخلوق د پاره فائدے پیدا کوم۔ یا دا قول روستو د جوړولو د اسمانونو نه دے طَوْعًا أَوْ كَرْهًا یعنی حکم په تاسو ضرور منئ که خوښه مو وی او که نه قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ او ظاهر دا ده چه دا سوال او جواب حقیقتًا دی چه الله تعالیٰ دوی له د ګویائی طاقت ورکړے وو۔ طائعین یا طائعات یې او نه ویل ځکه دے دواړو چه کله خبرے کولے نو پشان د ذوی العقول شول د دے وجے نه یې صیغه د تثنیه مذکر ذکر کړه۔

ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿۱۲﴾ فَاِنْ

دا تقدير دَ زورأور پوهه دے ۔ نو که

اَعْرَضُوْا فَقُلْ اَنْذَرْتُكُمْ صٰعِقَةً مِّثْلَ

دوی مخ اوګرځوؤ نو ته ورته اوایه ویره درکوؤمه تاسو ته دَ عذاب نه پشان

صٰعِقَةِ عَادٍ وَّثَمُوْدَ ﴿۱۳﴾ اِذْ جَآءَتْهُمُ الرُّسُلُ

دَ عذاب دَ عادیانو او ثمودیانو ۔ کله چه راغلل دوی ته رسولان

سئ ۱۲ ۔ داهم دلیل عقلی دے مشتمل دے په څلور تصرفات الٰهیه باندے اول فَقَضٰهُنَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ضمیر دَ هُنَّ السماء ته راجع دے او هغه معنٰی جمع ده۔ فِیْ یَوْمَیْنِ دا دوا یره غیر دَ هغه څلورو ورځو نه نو ټولے شپږ ورځے شوے دوئم تصرف وَاَوْحٰی فِیْ كُلِّ سَمَآءٍ اَمْرَهَا مراد دادے چه هر اسمان کښ ملائک دی نو هغوی ته ئے دَ هغوی متاسب احکام اولیږل یا اَوْحٰی په معنٰی دَ اتقلا دے او بیجلوؤ په اسمان کښ انتظام متاسب دَ هغے ۔ دریم وَزَیَّنَّا السَّمَآءَ الدُّنْیَا بِمَصَابِیْحَ اشاره ده چه ستوری دَ نزدے اسمان سره تعلق لری اګر چه دَ اسمان نه کوزوی لیکن دَ اسمان زینت وریاندے جوړ دے څلورم وَحِفْظًا مفعول مطلق دے دَ فعل محذوف یعنی وحفظناها حفظا۔ ذٰلِكَ تَقْدِیْرُ مراد دَ تقدیر نه هر څیز په متاسب انداز سره پیدا کول دی۔

سئ ۱۳ ۔ روستو دَ دلیلونو نه تخویف دنیوی دے اعراض کوونکو ته په ذکر دَ دوه ستمونو دَ مخکنو قومونو چه عاد او ثمود دی فَاِنْ اَعْرَضُوْا دا متعلق دے دَ سئ سره (سوال) اعراض خو اکثرو خلقو کړے دے نو په دے کښ لفظ دَ اِنْ ولے ذکر کړو چه دلالت کوی په شک باندے ؟

(جواب) دلته مراد دَ اعرضو نه دوام دَ اعراض دے یعنی که په اعراض کولو ئے همیش ولے اوکړه او توبه ئے اونکړله، او ذکر دَ عاد او ثمود اشاره ده چه دَ چا قوت دَ بدو تونو او دَ چا قوت دَ هغو متدے دَ الله تعالٰی دَ عذاب نه۔ بیچ کول شی کولے صَاعِقَةً یعنی سخت عذاب چه دَ هغے نه چغے وهل پیدا کیږی او انسانانو لره بے هوشه کړی یا ئے مړه کړی۔

مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ اَلَّا

مخکښ دَ دوی نه او روستو دَ دوی نه چه مه کوئ

تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ۭ قَالُوْا لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَاَنْزَلَ

بندګی بیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه دوی اُوئیل که غوښتلے رب زموږ نو نازل کړے به ئے وو

مَلٰٓئِكَةً فَاِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ⑭

ملائک نو یقیناً موږ په هغه څیز باندے چه تاسو پرے رالیږلے شوے یئ انکار کوو۔

فَاَمَّا عَادٌ فَاسْتَكْبَرُوْا فِى الْاَرْضِ بِغَيْرِ

نو هرکله چه عادیان وو نو لوئي ئے اوکړه په ملک کښ په نا حقه

الْحَقِّ وَقَالُوْا مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً ۭ اَوَلَمْ

سره او دوی اوئیل څوک دے سخت زموږ نه په قوت کښ ایا دوی نه

يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِىْ خَلَقَهُمْ هُوَ اَشَدُّ

ګوری یقیناً هغه الله چه پیدا کړیدی دوی هغه خو ډیر زیات دے

سا ۱۴: دا ذکر سبب دَ عذاب دے په دے دواړو قومونو باندے۔
مِنْۢ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ یعنی دَ دوی نه مخکښ لیږلے شوے رسولان دوی ته راغلل
چه دَ هغوی عمرونه الله تعالیٰ اوګده کړے وو وَمِنْ خَلْفِهِمْ او دَ دے قومونو
دَ هلاکت نه روستو هم رسولان پاتے شوی وو اشاره ده چه دوی دَ رسولانو
نه خالی نه وو پاتے شوے یا عبارت کښ تقدیر دے زمانډ روهم من بین
ایدیهم) یعنی ویره ئے ورکړه دوی ته دَ تیر شوے عذابونو نه او دَ
راتلونکو عذابونو نه۔ اَنْ لَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ معلومه شوه چه ټول رسولان متفق
وو په مسئله دَ توحید فی العبادات باندے قَالُوْا دا انکار دَ دوی ذکر
کوی او دا سبب دَ عذاب دے او حاصل دَ انکار ئے دا دے چه موږ
رسول بشر نه منو که ملائک رسولان وے نو موږ به منلے وے بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ
اشاره ده چه اصل انکار دَ دوی دَ مسئلے دَ توحید نه وو چه په هغے باندے
رسولان رالیږلے شوے وو۔

مِنْهُمْ قُوَّةً ۭ وَكَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۱۵﴾

دَ دوی نه په قوت کښ او دو دوی زموږ دَ ایاتونو نه یې انکار کوو۔

فَاَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيْحًا صَرْصَرًا فِيْٓ اَيَّامٍ

نو را اولیږله موږ په دوی باندے سیلۍ سخته په ورځو

نَّحِسَاتٍ لِّنُذِيْقَهُمْ عَذَابَ الْخِزْيِ

سپیرو کښ دَپاره دَدے چه اوڅکرو موږ دوی ته عذاب دَ رسوا یۍ

فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۭ وَلَعَذَابُ الْاٰخِرَةِ

په ژوند دنیوی کښ او خامخا عذاب دَ اخرت

اَخْزٰى وَهُمْ لَا يُنْصَرُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَاَمَّا ثَمُوْدُ

ډیر رسوا کوونکے دے او دوی سره به مدد نشی کیدلے۔ او هر چه ثمودیان وو

۱۵:۔ دَ مشترکه انکار ذکر کولو نه روستو دَ هر یو قوم جدا جدا طریقه دَ کفر او عذاب ذکر کوی۔ نو دَ عادیانو مرض استکبار وُ او سبب دَ استکبار غټ والے دَ بدنونو دَ دوی وُ نو مراد دَ استکبار نه دا دے چه دوی دَ هود علیه السّلام خبرے ته غوږ نه کیخودلو او پرواه یې نه کوله اَوَلَمْ یَرَوْا دا رد دے دَ دوی په قول باندے یعنی هرکله چه الله تعالیٰ دَ دوی خالق دے نو معلومه شوه چه دَ هغه قوت دَ دوی نه زیات دے نو دوی په څه رنګ په خپل قوت سره دَ هغه عذاب دفع کړی وَکَانُوْا دا عطف دے په استکبروا باندے بِاٰیٰتِنَا دَ دے نه مراد دلیلونه دَ قدرت دَ الله تعالیٰ او دَ توحید دَ هغه دی۔

۱۶:۔ دا تفسیر دَ صاعقۃ دَ عادیانو دے۔ صَرْصَرًا سخته تیزه او سخته یخه او سخته اواز کوونکے وه دا لفظ دلالت کوی په دے ټولو معانیو باندے نو په هغه سیلۍ کښ دا درے واړه صفتونه موجود وو اَیَّامٍ نَّحِسَاتٍ دَ دغه ورځو شماره په سورة الحاقه کښ ذکر ده۔ نَحِسَاتٍ نحس مقابل دَ سعد دے یعنی سپیرے وې په حق دَ هغوی کښ یا مراد ترې په معنیٰ دَ پرله پسے یا سختے یخے یا ډیرو دوړو والا۔ لِنُذِیْقَهُمْ دا متعلق دے په ارسلنا پورے عَذَابَ الْخِزْیِ هرکله چه دوی تکبر کړے وُ نو دَ دوی سره مناسب وه شرمندګی او سپکول دَ دوی دَ دے وجے نه الخزی او اخزیٰ یې دَ عذاب سره ذکر کړو۔

فَهَدَيْنٰهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى

نو هدایت اوکړو موږ هغوته (په واسطه د رسولانو) نو خوښ کړو هغوی ړوند والے په هدایت پاندے

فَاَخَذَتْهُمْ صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ

نو اونیول هغوی چغې د عذاب د ذلت

بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۱۷﴾ وَنَجَّيْنَا الَّذِيْنَ

په وجه د هغه عملونو چه دوی کول او بچ کړل موږ هغه کسان

اٰمَنُوْا وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ﴿۱۸﴾ وَيَوْمَ يُحْشَرُ

چه ایمان ئې راوړے وو او وو چه ځان ئې ساتلو د شرک نه. او په کومه ورځ چه جمع به کړے شي

اَعْدَآءُ اللّٰهِ اِلَى النَّارِ فَهُمْ يُوْزَعُوْنَ ﴿۱۹﴾

دشمنان د الله تعالى اور ته نو دوی به تقسیم شي په ډلو ډلو.

۱۷ ۱۸: دا ذکر د دویم نمونے د عذاب دے فَهَدَيْنٰهُمْ یعنی په واسطه د رسولانو دوی ته توحید او ایمانیات په دلیلونو سره بیان شول او دوی واوریدل لیکن فَاسْتَحَبُّوا الْعَمٰى عَلَى الْهُدٰى حاصل دادے چه عادیانو د سرۀ هدایت نه غوږ نه وو ایښودلے د وجے د استکبار نه او ثمودیانو خو غوږ کیښودلو لیکن ګمراهي (شرک وکفر) ورته خائسته ښکاریدله نو د دے وجے نه اعراض ئې اوکړو د دے نه معلومه شوه چه کفر کونکي دوه قسمه دي یو قسم ضدیان عنادیان چه حق پیژني لیکن نه مني او دویم قسم چه شرک او کفر ورته جائز او د ثواب کار ښکاریږي نو توحید نه مني او دواړه قسمونه اوس هم موجود دي. صٰعِقَةُ الْعَذَابِ الْهُوْنِ اضافة بیانیه دے یا اضافة د صفت دے موصوف ته الْهُوْنِ، مصدر دے مضاف ئې حذف دے یعنی ذي الهون. وَنَجَّيْنَا ۱۸: سره بشارت دے مؤمنانو لره او دا متعلق دے د دواړو قصو سره یعنی په عادیانو او ثمودیانو کښ چه چا ایمان راوړے وو نو هغوی نجات اوموندلو یا متعلق دے صرف ثمودیانو پورے اشاره ده چه عادیانو کښ ایمان والا ډیر کم وو د دے وجے نه د هغوی ذکر اونشو.

۱۹: روستو د تخویف دنیوي نه تخویف اخروي ذکر کوي. اَعْدَآءُ اللّٰهِ هر مشرک او کافر او د الله تعالى او د رسول د حکم مخالفت کوونکي راتلے په یل مخ)

حَتّٰىٓ اِذَا مَا جَآءُوْهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ

ترجمه: پورې چه کله راشي اُور ته ګواهي به اوکړي په دوی باندې غوږونه د دوی

وَاَبْصَارُهُمْ وَجُلُوْدُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ⑳

او سترګې د دوی او څرمنې د دوی په هغه عملونو باندې چه دوی کول۔

وَقَالُوْا لِجُلُوْدِهِمْ لِمَ شَهِدْتُّمْ عَلَيْنَا ؕ

او دوی به اُوائي څرمنو خپلو ته ولې ګواهي اوکړه تاسو په مونږ باندې

قَالُوْٓا اَنْطَقَنَا اللّٰهُ الَّذِيْٓ اَنْطَقَ كُلَّ

دوی به اُوائي ګويائي راکړه مونږ ته الله تعالٰی هغه ذات چه ګويائي ورکړې ده هر

شَيْءٍ وَّهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّاِلَيْهِ

څيز ته او هغه پيدا کړي يئ تاسو اول ځل او هغه ته به

تُرْجَعُوْنَ ㉑ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَتِرُوْنَ اَنْ يَّشْهَدَ

اوګرځولې شئ تاسو۔ او نه وئ تاسو چه پرده موکوله د دې نه چه ګواهي به اوکړي

په دې لفظ کښې داخل دے ليکن هغه خلق چه دَ قرآن نه اعراض کوی او ته يئ اوری او نورخلق ترينه هم منع کوی دا اول نمبر دشمنان دَ الله تعالٰی دی په دې سورت کښې دا صفت والا خلق ذکر شويدی دَ دے وجې نه خاص په دې سورة کښې اعداء الله يئ وصف ذکر کړے دے ۔ يُوْزَعُوْنَ يعنی روستو دَ جمع کولو نه به په مختلف ډلو کښې تقسيم کړے شی او اور ته به داخل کړے شی ځکه چه وَزَعْ په اصل کښې تقسيم ته ويلے کيږي۔

۲۰: هرکله چه سورة مؤمن کښې ذکر کړے وو چه دا مشرکان په انکار اوکړي دَ شرک کولو نو په دې سورت کښې په هغوی باندے شهادت دَ خپلو اندامونو ذکر کوی۔ تخصيص دَ دے درے اعضاؤ يئ کړے دے دَ دے وجې نه قوت دَ اوريدلو په غوږونو کښې دے او قوت دَ ليدلو په سترګو کښې دے او قوت دَ بويولو او څکلو او سَکلو ټول دا په څرمنو کښې داخل دی. او هرکله چه تيرشول په دې سورت کښې چه اکثر خلق په غوږونو سره قرآن نه اوری او دليلونه عقليه يئ ذکر کړه دا اشاره وه چه دا خلق په سترګو سره دے کائناتو ته نه ګوری نو دا دوه اندامونه يئ خود دے وجې نه خاص کړل په شهادت کولو سره او دا سے شهادت

۲۱: تخصيص دَ څرمنو يئ اوکړو دَ دے وجې نه چه دَ غوږونو او دَ سترګو سره خطاب

عَلَيْكُمْ سَمْعُكُمْ وَلَآ اَبْصَارُكُمْ وَلَا

په تاسو باندے غوږونه ستاسو او نه سترگے ستاسو او نه

جُلُوْدُكُمْ وَلٰكِنْ ظَنَنْتُمْ اَنَّ اللّٰهَ لَا يَعْلَمُ

څرمنے ستاسو لیکن گمان کوئے تاسو چه الله تعالیٰ نه دے عالم

كَثِيْرًا مِّمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿٢٢﴾ وَذٰلِكُمْ ظَنُّكُمُ

په ډیرو دَ هغه کارونو نه چه تاسو یئے کوئے۔ او دا گمان ستاسو دے

الَّذِيْ ظَنَنْتُمْ بِرَبِّكُمْ اَرْدٰىكُمْ فَاَصْبَحْتُمْ

دا سے گمان چه کړے وو تاسو په رب خپل باندے هلاک یئے کړے تاسو نو شوئے تاسو

مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿٢٣﴾ فَاِنْ يَّصْبِرُوْا فَالنَّارُ

دَ تاوانیانو نه ۔ که دوی صبر کوی نو اُور

نشی کیدے او باقی اندامونو سرہ مخاطبه کیدے شی او بله وجه دا چه جلود ټولو اندامونو ته شامل دے. وَهُوَ خَلَقَكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ داهم کلام دَ څرمنو دے معنیٰ دا چه الله تعالیٰ ستاسو په اول خلق باندے قادر وؤ نو زمونږ په ناطق کرځولو باندے هم قادر دے یا دا چه الله تعالیٰ تاسو اول پیدا کړی وئے نو تاسو دَ هغه نافرمانی ولے کوئے یا دا جمله معترضه ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه خطاب دے۔

۲۲:- داهم په تخویف کښ داخل دے. داهم قول دَ څرمنو دے یا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے په آخرت کښ یا زجر دے په دنیا کښ لیکن کنتم په معنیٰ دا نتم سرہ دے. تَسْتَتِرُوْنَ په معنیٰ دَ ځان ساتلو دے یا په معنیٰ دَ حیا کولو دے یا په معنیٰ دَ ویرہ کولو دے. كَثِيْرًا سے دَ دنه مراد هغه عملونه دی چه دوی پټ کول نو گمان داوؤ چه الله تعالیٰ ته دَ دے علم نیشته لکه چه دَ بعض فلسفیانو عقیده ده چه الله تعالیٰ په جزئیاتو باندے عالم نه دے او دا عقیده کفر دے. او په مشرکانو کښ دَ بعضو عقیده داوه چه الله تعالیٰ په هرڅه باندے علم نه لری او دَ بعضو عقیده داوه چه الله تعالیٰ ته هیڅ څیز پټ نه دے لکه قول دَ یو مشرک شاعر دے وَمَهْمَا يُكْتَمِ اللّٰهُ يَعْلَمِ ۔

۲۳:- اهل علم وائی چه ظن دوه قسمه دے یو حسن دے او بل سوء او فاسد دے حسن دا دے چه الله تعالیٰ خاوند دَ رحم او دَ فضل گڼړی (پاتے په بل مخ)

مَثْوًى لَّهُمْ ۚ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا فَمَا هُم

ځائے د اوسیدلو د دوی. دے او که دوی واپسی غواړی نو دوی به نشی

مِّنَ الْمُعْتَبِينَ ﴿۲۴﴾ وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاءَ

واپس کیدے. او جوخت نښلی دی مونږ د دوی سره ملګری (شیطانان)

فَزَيَّنُوا لَهُم مَّا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا

نو ښائسته کوی دوی ته هغه چه مخکښ دی د دوی نه او هغه

خَلْفَهُمْ وَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ فِي أُمَمٍ

چه روستو دی د دوی نه او پوره شویدہ په دوی باندے فیصله (د داخلیدو په) په هغه ډلو کښ

او استغفار غواړی او طاعت کوی نو دغه ظن مراد دے په هغه حدایت کښ چه انا عند ظن عبدی بی او په بل حدایث کښ چه تاسو نه دے مړکیږی مګر په دا سے حال کښ چه په الله تعالیٰ باندے ښائسته ګمان کوی". او ظن فاسد دا دے چه الله تعالیٰ عالم الغیب نه ګڼړی یا هیچ طاعت نه کوی او ګمان کوی چه الله تعالیٰ به ما ته بخښنه کوی۔ او قتادہ رحمۃ الله علیہ روایت دے چه ظن دوه قسمه دے یو منجی (نجات ورکوونکے) دویم مُردی (هلاکوونکے) اول مراد دے په آیت انی ظننت انی ملاقٍ حسابیه. یظنون انهم ملاقوا ربهم الآیه کښ او دویم مراد دے په دے آیت کښ او دا رنګ په یظنون بالله غیر الحق ظن الجاهلیة کښ. او د عمر رضی الله عنه نه روایت دے "چه هغه خلق چه همیشه ګناهونه کوی او توبه نه کوی او خیرے کوی چه الله تعالیٰ به ما او بخی نو تر دے چه د دُنیا نه به مفلسان لاړشی" او دا آیت ئے اولوستلو.

س ۲۴ :- دا هم په تخویف اخروی کښ داخل دے او د ان یصبروا مقابل حذف دے یعنی او لم یصبروا یعنی که صبر کوی او که نه کوی خو جهنم ته به ضرور داخلیږی لکه سورة طور س ۱۶ وَإِن يَسْتَعْتِبُوا دا د عتبی نه اغستلے شویدے په معنیٰ د رجوع سره دے یعنی که چرے دوی دنیا ته واپسی طلب کوی نو دا نشی منلے کیدے. او قرطبی اول قول دا سے ذکر کړے دے چه دا په دنیا کښ مراد دے یعنی که دوی په دنیا کښ عمل د اور والو باندے ټینګ وی نو اور ته به داخلیږی او که چرے دوی سره د کفر نه توبے او استغفار کوی نو دا سے توبه ئے نه قبلیږی.

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ

چه تیرے شویدی مخکښې دَ دوی نه دَ پیریانو او انسانانو نه

اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۲۵﴾ وَقَالَ الَّذِيْنَ

یقیناً دوی تاوان والا دی . او وائي کافران

۲۵. دَ دے ایت نه دویم باب د ے تر ۳۲ پورے په دے کښې ذکر کوی سبب دَ اعراض او دَ منع دَ قرآن بیا منع کول دَ قرآن ذکر کوی او دا دریمه شبهه دَ دوی ده او جواب دَ هغې په تخویف اخروی سره د ے بیا بشارت د ے په استقامت باندے په وخت دَ شبهاتو کښې بیا طریقه دَ دعوت راوړی . بیا دوه عقلی دلیلونه بیا زجر د ے الحاد کوونکو ته او صداقت دَ قرآن او تسلی رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته ذکر کوی . په دے (۲۵) کښې سبب دَ کفر دَ دوی ذکر کوی او دا سبب د ے دَ اعراض او دَ منع کولو دَ قرآن نه او دا هم سبب د ے دَ عذاب چه مخکښې ذکر کړے شو او په دے کښې دویمے شبهے ته اشاره ده حاصل دا د ے چه دوی ته اعمال دَ مشرکانو کافرانو خائسته ښکاری نو دَ هغې دَ پاره په شیطانی وسوسو سره دلیلونه پیش کوی مثلاً وائي چه دَ اولیاؤ کرامو قدرت شته هر کله چه مونږ ورته رامداد شه او ایو نو دَ قبرونو نه آواز راکوی کله راته لاس را اوباسی مصافحه راسره کوی کله راته په صحراء کښې راښکاره شی چه څه ستا مدد له راغلے یم کله راته په خوب کښې راشی او دَ مدد کولو وعدے راسره کوی او کله چرته مونږ دَ دوی نذرانه پریږدو نو په مونږ باندے په خوب کښې کنها پړوی او ویره راکوی نو معلومه شوه چه دَ دوی بندګی کول او دوی ته رامداد شه ویل جائز دی . حاصل دَ جواب دا د ے چه دا ټول شیطانی کارونه دی هغه شیطان ځان ته دَ ولی نوم کیدی او دا کارونه شیطان دَ د ے وجے نه کوی چه د ے خلقو ته دَ شرک کارونه خائسته ښکاره شی . وَقَيَّضْنَا لَهُمْ قُرَنَاۤءَ تقییض مسلط کولو او پیوست کولو ته ویلے کیږی لکه چه دَ پیازو پوستکی پیوست وی یو بل سره ، یعنی شیطانان دَ دوی سره په ویخه او خوب کښې هر وخت لازم وی دَ دوی نه جدا کیږی نه . فَزَيَّنُوْا لَهُمْ مَّا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ په دے کښې یو قول دا د ے چه د اول نه مراد اموال دَ دنیا دی او دَ دویم نه مراد آخرت او بعث بعد الموت د ے . او دویم دَ د ے په عکس سره د ے . دَ دنیا خائسته کول دا دی چه په هغې کښې دا سے مشغول شی چه دَ دین او آخرت نه غافل شی او دَ آخرت خائسته کول دا دی (پاتے په بل مخ)

كَفَرُوا لَا تَسْمَعُوا لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ وَالْغَوْا

مه گدئ غوږ دے قران ته او شور کوئ په مقابله

فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ ۝٢٦ فَلَنُذِيقَنَّ

د دے کښ دے ډیاره چه زور اور شئ - نو خامخا اویه څکوو موږ

چه د هغې ته ئې منکر اوګرځوی. نو د مَا خَلْفَهُمْ قحل په اصل کښ پټ دے یعنی انسوهم (رهبر کړے دے آخرت لره د دوی نه) او دریم قول نیشاپوری ذکر کړے دے چه مراد د مَابَيْنَ اَيْدِيهِمْ نه عملونه د مفسدانو د دے زمانے دی او ماخلفهم نه مراد عملونه د مفسدانو مشرانو دی چه هغه شرکیات کفریات اوخرافات دی او دوی ته خائسته اوښه کارونه ښکاریږی. اَلْقَوْلُ نه مراد فیصله د عذاب ده- فِىٓ اُمَمٍ فی په معنیٰ د مع سره دے یا حال دے یعنی وی په دوی په هغه ډلو کښ.

ف۲۶:- دا زجر نتیجه ده د تیرشوی آیت د مضمون یعنی هرکله چه شیطانانو دوی ته شرکیات خائسته کړیدی او قرآن کریم خوښکاره رد کوی په شرک باندے نو په دے وجے سره دوی د قرآن ته خلق منع کوی. اَلَّذِينَ كَفَرُوا په دے وصف باندے تصریح د دے ډیاره اوکړه چه معلومه شی چه د قرآن اوریدلو نه منع کوونکے کافر دے که په هره زمانه کښ وی ځکه ابن کثیر ویلے دی چه دے آیت کښ داخل دی هغه څوک چه د دوی په مسلک باندے تلل کوی په وخت د اوریدلو د قرآن کښ - لِهٰذَا الْقُرْاٰنِ ، په دے اسم اشاره کښ مراد دا دے چه قرآن داسے لوستل په توحید او په رد د شرکیاتو باندے مشتمل دی صرف قراءت خو مراد نه دے. وَالْغَوْا فِيهِ شور وشغب کول او عیبونه لګول او اعتراضونه کول او نورے کول ټولو ته دا لفظ شامل دے د قرآن په مقابله کښ په نورو علمونو کښ مشغولیدل او شعرونه نعتونه وئیل او دیوان غزول وغیره دا ټول په دے لفظ کښ داخل دی.

لَعَلَّكُمْ تَغْلِبُونَ معلومه شوه چه مقصد د دے مخالفت کوونکو قرآن والا او د قرآن تحریک او د قرآن تعلیماتو لره کمزورے کول دی که برائے نام مسلمانان وی اوکه کافران وی نو دا مقصد لری.

الَّذِينَ كَفَرُوا عَذَابًا شَدِيدًا وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ

هغه چاته چه کفر ئې کړیدے عذاب سخت او خامخا سزا به ورکړو مونږ دوئ ته

أَسْوَأَ الَّذِي كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝٢٧ ذَٰلِكَ

ډیره ناکاره سزا د هغه عملونو چه دوی کول دا

جَزَاءُ أَعْدَاءِ اللَّهِ النَّارُ لَهُمْ فِيهَا

سزا د دشمنانو د الله تعالیٰ ده اور دے دوی لره په هغې کښې

دَارُ الْخُلْدِ جَزَاءً بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا

کور د همیش والی دے بدله ورکیدے شی په وجه د دے چه دوی د آیاتونو زمونږ

يَجْحَدُونَ ۝٢٨ وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا

انکار کوؤ - او او به وائی کافران

۲۷:- دا جواب د ماقبل قول دے په تخویف ورکولو په پنځو طریقو سره. په دے ایت کښې دوه طریقے دی یو عذاب شدید په دنیا او اخرت کښې او دویم تاکید په سزا ورکولو سره په حرف د لام او نون په لنجزینهم کښې دا رنګ په دے ایت کښې د قرآن منع کوؤنکو په باره کښې دوه حکمونه دی یو داچه دا کار د کفر دے او دویم داچه دا ډیر ناکاره عمل دے. شَدِيدًا اغه عذاب دے چه په ټولو اجزاؤ د بدن باندے وی او همیشه د پاره وی.

۲۸:- په دے ایت کښې تخویف دے په دوه طریقو سره یو داچه د دوی سزا پوره اور دے ځکه چه النَّارُ ئې معرفه ذکر کړے دے د پاره د کمال دویم داچه دغه اور د دوی د پاره دارالخلد دے او دوه حکمونه ئې ذکر کړه یو داچه دا خلق د الله تعالیٰ صریح دشمنان دی دویم داچه دوی د الله تعالیٰ د ایاتونو ته عناداً انکار کوؤنکی دی. ذَٰلِكَ مبتدا ده جزاء خبر دے او النار بدل دے د خبر نه یا خبر د مبتدا محذوف دے. لَهُمْ فِيهَا دَارُ الْخُلْدِ (سوال) اور خو پخپله دارالخلد دے نو فِيهَا ئې ولے ذکر کړو؟ (جواب) په حرف د فی کښې معنی د انغماس (غوپه کیدلو) ده یعنی دوی باندے اور د هر جانب نه احاطه کړے دی او دوی به پکښې غوپه وهی نو دا سخت عذاب ته اشاره ده.

رَبَّنَآ أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلّٰنَا مِنَ الْجِنِّ

اے ربه زموږ اوخايه موږ ته هغه دوه کسان چه بے لارے کړے وو موږه دَ پيريانو

وَالْإِنْسِ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا لِيَكُونَا

او انسانانو ته چه کيږدو موږدا دواړه لاندے دَ خپو زموږ ته دے دَپاره چه شي دوي

مِنَ الْأَسْفَلِيْنَ ﴿۲۹﴾ إِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا

دَ ذليلانو نه - يقيناً هغه کسان چه وائي

رَبُّنَا اللّٰهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوْا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ

رب زموږ الله تعالىٰ دے بيا پاخه شوے دي (په دے دينا) راکوځيږي په دوي باندے

الْمَلٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا

ملائک چه مه ويرېږئ او مه خفه کيږئ

وَأَبْشِرُوْا بِالْجَنَّةِ الَّتِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۳۰﴾

او زيرے واخلئ په جنت سره هغه چه تاسو سره ئے وعده کيدے شوه.

ف۲۹:۔ په دے ايت کښې تخويف دے په يو طريقے سره هغه په اصل کښې
ارمان کول دي په تقليد دَ مشرانو گمراهانو سره او دا اشاره ده تير شوي ايت
۲۵ ته چه دَدوي دَپاره په دُنيا کښې ناکاره قرناء دي او اخرت کښې به هغوي
ته گمراه اُوائي أَضَلّٰنَا لوئے اضلال دا وُو چه دَ قرآن نه ئے منع کول او دوي
ئے تقليد کوؤ۔ نَجْعَلْهُمَا تَحْتَ أَقْدَامِنَا يعنې دوي موږ لره په دنيا کښې دَ خپل
حکم دَ لاندے کړے وو نو دَ هغے په بدل کښې ئے موږه نن دَ خپو لاندے کول
غواړو لِيَكُوْنَا مِنَ الْأَسْفَلِيْنَ يعنې لکه دوي په دُنيا کښې موږه ذليل کړے وو او دوي به
اوچت زموږ په اوګو باندے ناست وو نو نن موږ غواړو چه دوي زموږ دَ لاندے
او ذليل شي - ليکن دا قول دَ دوي صرف په طريقهٔ تمنا سره دے او حال دا
چه نه به پوره کيږي -
ف۳۰:۔ هرکله چه حال دَ مخالفينو دَ قرآن ذکر کړے شو نو اوس حال دَ قرآن والو
ذکر کوي په طريقه دَ بشارت سره قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ دا دَ قرآن دَ تاثير په وجه
سره دَ دوي عقيده جوړه شويده مراد دَ دے پوره ايمان او کمال توحيد دے

نَحْنُ اَوْلِيٰٓؤُكُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دنیوی کښې	ژوند	په	ملګری یو	ستاسو	موږ

یعنی خالق او مالک او حقدار دَ بندګئ او دَ پالنې څیزونه پیدا کوونکے او ټول حاجتونو پوره کولو والا دے قادر دلته رَبّ ډیر ټولو صفتونو ته شامل دے ثُمَّ اسْتَقَامُوا مراد ترینه په توحید او ایمان باندے پوخ پاتے کیدل دی تر مرګه پورے او دَ دے پوخ والی تفسیر کښې دَ ابوبکر رضی الله عنه نه نقل دے چه شرک ئې هیڅ قسم نه وی کړے او دَ عمر رضی الله عنه نه نقل دے چه په امر او نهی باندے کلک وی او دَ لومړیانو پشان یو خوا بل خوا نه پټیږی او دَ عثمان رضی الله عنه نه نقل دے چه اخلاص دَ هر عمل دَ الله تعالیٰ دَپاره کوی او دَ علی رضی الله عنه نه روایت دے چه ټول فرائض اداکوی، دا اقوال عامو مفسرینو ذکر کړیدی او په دے کښې دَ تابعینو هم مختلف اقوال دی لیکن دَ ټولو خلاصه دا ده چه په طاعت دَ الله تعالیٰ باندے عقیده ساتی او قولاً او عملاً تر مرګه پورے کلک وی۔ او دَ استقامت معنیٰ او مرتبه او نور تفصیل په تفسیر دَ سورة فاتحه (لطائف القرآن) کښې مونږ ذکر کړے دے۔ او استقاموا نه دے ویلے بلکه سین او تا ئې پکښې راوړے دی په دے کښې اشاره ده چه دَ الله تعالیٰ نه هر وخت طلب کوی پوخ والے په دین باندے او دا بشارت ئې په اته طریقو سره ذکر کړے دے او دے ته کرامات دَ اولیاؤ ویلے کیږی نو معلومه شوه چه تعریف دَ ولی هم دا دے چه ربنا الله وائی او صفت دَ استقامت پکښې موجود وی۔ په دے ایت کښې ئې بشارت په څلورو طریقو سره ذکر کړے دے۔

اوّل تنزل دَ ملائکو او صیغه دَ تتنزل دلالت کوی چه وخت په وخت همیشه نزول کوی دا نه چه صرف یو ځل نزول کوی نو دا نزول په خوب کښې هم وی په رښتینو خوبونو سره او په وخت دَ زنکدن کښې به وی او په وخت پورته کیدا دَ قبرونو نه او په حشر کښې۔

دویم زیرے ورکول په عدم خوف سره دَ عذاب او دَ مصیبتونو او دَ ګناه نه۔

دریم زیرے دے په عدم حزن (زیره نه ورکولو) سره یعنی په اولاد او کور والا او خپل خپلوانو پسے خفه کیدل به نه وی او په دنیا پسے په ارمانونه کول نه وی۔

څلورم بشارت دے په جنّت سره موافق دَ هغه وعدو سره چه الله تعالیٰ کړے دی چه هغه بے شماره نعمتونه دی په جنّت کښې چه په ډیرو ایاتونو کښې ذکر کړے شوی دی۔

وَفِي الْآخِرَةِ ۚ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي
او په آخرت کښې او تاسو لره په دے کښې هغه څیزونه دی چه غواړی یې
أَنفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ﴿٣١﴾
نفسونه ستاسو او تاسو لره په دے کښې هغه دی چه ارمان کوئے تاسو۔
نُزُلًا مِّنْ غَفُورٍ رَّحِيمٍ ﴿٣٢﴾ وَمَنْ أَحْسَنُ
میلمستیا تیاره ده د طرف د هغه کوونکی رحم کوونکی نه۔ او څوک ډیر ښائسته دے
قَوْلًا مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا
په وینا کولو کښې د هغه چانه چه دعوت کوی الله تعالیٰ ته او عمل کوی د سنت برابر

۳۱۔ په دے آیت کښې بشارت په درے طریقو سره دے اول نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ دا مقابل د قرناء الشياطين دے لکه چه مشرکانو د پاره شیطانان ملګری وو په دنیا کښې نو د مؤمنانو د پاره ملائک ملګری دی په دنیا کښې الهام د خیر ورته کوی او د مونځ د پاره یې د خوب نه بیداره وی او د مضرات شیطانی نه ترینه لرے کوی لکه چه "له معقبات من بين يديه ومن خلفه يحفظونه من امر الله" (رعد ۱۱) کښې تیر شوے دی۔ د فِي الْآخِرَةِ قرناء شیاطین خو به په آخرت کښې دشمنان شی او ملائک به آخرت کښې هم ملګری او دوستان وی شفاعت به مؤمنانو لره کوی او سلامونه به ورته کوی۔
دویم بشارت وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنفُسُكُمْ اشاره ده چه دوی په دنیا کښې د شهوات نفسانیه نه ځان بچ ساتلے وو نو آخرت کښې د هغے آزادی ورکوی۔
دریم وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ادعاء عام ده چه طلب په قول سره یا په تمنا د زړه سره وی او دا د اشتهاء نفس نه هم عام ده یعنی د خولے په طلب او د زړه په تمنا او د نفس په اشتهاء باندے پابندی نیشته۔
۳۲۔ په دے کښې یو بشارت دے۔ نُزُلًا هغه څیزونه خوراک څکاک مکان وغیره چه د میلمه د پاره تیاریږی یعنی د دُنیا پشان به نه وی چه د میلمه د پاره په تکلف صرف درے ورځے کوی او بیا په عام خوراک خوری لیکن په جنت کښې به هر وخت اعزاز او اکرام د میلمه پشان وی نُزُلًا حال دے د لفظ د مَا نه یا أُعِدَّتْ د پاره د مفعول به دے۔

وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿۳۳﴾ وَلَا تَسْتَوِي

او دائي چه يقيناً زهٔ د مسلمانانو د ډلے نه يم ۔ او برابر نشي كيدے

الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ۚ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ

ښه او بد دفع كوه (بد ولره) په هغه طريقه چه

أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ

ښائسته ده نو دغه وخت هغه څوک چه په مينځ ستا او په مينځ د هغه كښ

عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ ﴿۳۴﴾

دشمني وي گويا كه دے دوست گرم (مخلص) ۔

۳۳:۔ دا بيان د صفت د استقامت دے چه دعوت الے الله كوي او په طريقه د زورنے سره دے هغه كسانو ته چه د قران د اوريدلو نه خلق منع كوي يعني قران ډير ښائسته دعوت دے نو د دے نه ولے خلق منع كوئے ؟ او په دے اياتونو كښ د دعوت الى الله اداب ذكر كوي ۔ په دے ايت كښ درے اداب دي ۔

اول ادب دَعَآ اِلَے اللّٰهِ يعني مقصد او منشور د دعوت د ده (الى الله) دے او د دے نه دعوت د توحيد په ټولو اقسامو سره او دعوت اطاعت د الله تعالىٰ او د رسول ته او دعوت عمل د سنت ته په ټولو حالاتو كښ مراد دے ۔

دويم ادب وَعَمِلَ صَالِحًا دا ادب د پاره د تاثير د دعوت دے په زړونو د خلقو كښ او د دے د پاره چه داخل نشي دعوت كوونكے په دے زورنه كښ اتأمرون الناس بالبر وتنسون انفسكم او لم تقولون مالا تفعلون ۔ او عمل صالح شامل دے پوره تابعداري كول د سنت د رسول الله عليه وسلم او د صحابه كرامو ته ۔

دريم ادب وَقَالَ اِنَّنِيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ دا ئے د دعوت كولو نه روستو ذكر كړو اشاره ده چه دا قول په وخت د ضرورت كښ دے مثلاً چه خلق تپوس اوكړي چه اے داعي ته د كوم ډلے سره تعلق لرے نو دا جواب دِ اوكړي يا مراد د اسلام نه اخلاص دے يعني كه خلق گمان اوكړي چه د دهٔ به په دے دعوت كښ د دنيا مال وجاه وغيره مقصد وي نو جواب به اوكړي په اظهار د اخلاص سره ۔

۳۴:۔ په دے ايت كښ دوه اداب ذكر كوي اول وَلَا تَسْتَوِي يعني داعي له ضروري دي چه د حسنه او سيئه فرق پوره او پيژني (پاكے په بل مخ)

وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا ۚ وَمَا يُلَقّٰهَآ

او نشي ورکيدے دا خصلت مګر هغه کسانو ته چه صبر ئي کړيدے او نشي ورکيدے دا

اِلَّا ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ ﴿۳۵﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ

مګر لوئي برخے والا ته. او که چرے اورسيږي تا ته

دپاره دَدے چه په حسنه باندے امر کوی او دَ سيئه نه نهي کوی او حَسَنَة توحيد او سنّت ته ويلے کيږی او سيئه شرک بدعات او فسق فجور ته و يلے کيږی يا مراد دَ حسنه نه خائسته اخلاق دی او دَ سيئه نه بد اخلاق دی. او لا لفظ ئي مکرر راوړے دَپاره دَ تاکيد دَ فرق په مينځ دَ حسنه او سيئه کښ لکه چه سورة فاطر کښ وما يستوی الاحياء ولا الاموات کښ تير شويدی يا دَ دے وجے نه چه دَ حسناتو په مينځ کښ هم تفاوت دے او دَ سيئاتو په مينځ کښ هم تفاوت دے. دويم ادب تفريع ده په ما قبل جمله باندے اِدْفَعْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ يعني په بيان دَ حسنه سره چه توحيد او سنت دے دفع کوه شرک و بدعت او ګناهونو لره اشاره ده چه دَ مسئلے مقابله په مسئلے سره کوه په کنځلو او جګړے کولو سره مکوه يا مراد دا دے چه په صبر حلم او عفو او کرم وغيره دَ مخالفينو دَ غضب او کنځلو او دَ ظلم وغيره مدافعت کوه او قرطبي دَ ابوبکر رضی الله عنه نه روايت راوړے دے "چه يو شخص بل ته کنځل اوکړی نو هغه بل دِ ورته اووائي که تا زما په باره کښ رشتيا ويلے وی نو الله تعالیٰ دِ ما ته مغفرت اوکړی او که تا دروغ ويلے وی نو الله تعالیٰ دِ تا ته مغفرت اوکړی". فَاِذَا الَّذِيْ بَيْنَكَ وَبَيْنَهٗ عَدَاوَةٌ اه دا بيان دَ فائدے دَ دغه طريقے دَ دعوت او دَ هغے ثمره او نتيجه ذکر کوی. وَلِيٌّ يعني قريب بشي حَمِيْمٌ مخلص يه او کړئ (سوال) دَ دے ادابو خو انبياء عليهم السّلام ټول نبيٰه پابند دو خاص کړيا زمونږ نبي صلی الله عليه وسلم خو په دے ادابو باندے پوره متصف وو او حال دا چه دَ هغه بعض دشمنان لکه ابوجهل، ابولهب وغيره خو دوستان نه شول؟ (جواب) دا چه مراد دَ دشمن نه په دے ايت کښ دشمن دے دَ جهل دَ وجے دَ عنادی دشمن مراد نه دے عداوةٌ کښ تنکير دَپاره دَ خاص نوع دے په قرينه دَ سورة عنکبوت ۴۶ چه دے کښ دَ عنادیانو استثناء ئي کړے دَ جدال بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ نه. او هر کله چه کتابيانو کښ ضديان عناديان ډير دی په نسبت دَ نورو عوامو نو سورة عنکبوت کښ استثناء باندے تصريح اوکړه او په دے سورت کښ استثناء ذکر نه کړه (والله اعلم بالصواب).

۳۵ - په دے ايت کښ عظمت شان دَ دغه خصلت ذکر کوی يعني دفاع په احسن طريقے سره دَ صبر ناکو او دَ جنتيانو خصلت دے. ذُوْ حَظٍّ عَظِيْمٍ دَ دے نه مراد

مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ؕ إِنَّهٗ

دَ شیطان دَ طرف نه چوکه تو پناه غواړه په الله تعالیٰ سره یقیناً

هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿۳۶﴾ وَمِنْ اٰيٰتِهِ الَّيْلُ

هغه هر څه اوری په هر څه پوهه دے. او بعض دَ دلیلونو دَ توحید نه شپه

وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ؕ لَا تَسْجُدُوْا

او ورځ او نمر او سپوږمۍ دی سجدے مه کوئ

لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ

نمر ته او نه سپوږمۍ ته او سجده خاص کوئ الله تعالیٰ ته

الَّذِيْ خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ

هغه الله تعالیٰ چه پیدا کړے دی دا که چرے تاسو خاص هغه لره

جنّت دے. دَ دے نه معلومه شوه چه دعوت کوونکے حق ته په دا سے خصلتونو سره دَ الله تعالیٰ په نیز باندے دَ لویئ برخے خاوند دے او جاهلان خلق دَ برخے خاوند هغه چا ته وائی چه لیونے او مجذوب وی او دا ناکاره عقیده ده.

۳۶: په دے ایت کښ یل ادب ذکر کوی دَ پاره دَ داعی. وَإِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ یعنی هرکله چه مخالفین سب و شتم کوی نو شیطان انسی یا جنّی تا ته وسوسه اوکړی چه ته هم ورته کنځل اوکړه او جګړے ته دِ اماده کوی نَزْغٌ دَ نزغ فاعل یئ هم نزغ کرځولے دے دَ پاره دَ تاکید یا نزغ په معنیٰ دَ نازغ دے. او مِنَ الشَّيْطَانِ کښ مِنْ بیانیه دے. فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ دَ استعاذه بالله قران کښ په دوه ځایونو کښ امر دے اول په وخت دَ شورو کولو دَ قراءت دَ قران کښ لکه سورة نحل ۹۸ او دویم په وخت دَ غضب او غصّه کیدلو کښ لکه چه سورة اعراف ۲۰۰ کښ دی. سورة اعراف کښ انه سميع علیم نکره یئ ذکر کړیدا او په دے ایت کښ انه هو السميع العليم معرفه او ضمیر فصل یئ ذکر کړیدے وجه دا ده چه په دے سورت کښ دَ منکرینو ډیر ضد او عناد ذکر کړے شو نو دَ هغے دَ دفع کولو دَ پاره ډیر تاکیدی الفاظ پکار دی او سورة اعراف کښ دَ منکرینو ضد او عناد یئ نه دے ذکر کړے نو هلته تاکید ته ضرورت نیشته.

تَعْبُدُوْنَ ﴿۳۷﴾ فَإِنِ اسْتَكْبَرُوْا فَالَّذِيْنَ

بندګی کوئے | نو که چرے دوی لوئی کوی | نو | هغه کسان

عِنْدَ رَبِّكَ يُسَبِّحُوْنَ لَهٗ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ

چه ستا د رب سره دی | تسبیح وائی | هغه لره | د شپې | او د ورځې

وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ ﴿۳۸﴾ السجدة وَمِنْ اٰيٰتِهٖ

او دوی | نه | ستړے کیږی - | او بعض د دلیلونو د توحید نه دادی

۳۷:۔ په دے ایت کښ دلیل عقلی په توحید باندے ذکر کوی او اشاره ده چه داعی ګر چه غصه شی نو اعوذ بالله وئیلو ته روستو د دلیلونه پیش کوی وَمِنْ اٰيٰتِهٖ په دے کښ اشاره ده چه دلیلونه د توحید بے شماره دی اَلَّيْلُ وَالنَّهَارُ دا مسبب دی او الشمس والقمر اسباب دی یعنی پیدا کوونکے د اسبابو او مسبباتو الله تعالیٰ دے۔ لَا تَسْجُدُوْا رد دے په هغه مشرکین باندے چه د نمر او سپوږمئ عبادتونه کوی لکه چه قوم د ابراهیم علیه السلام وو دارنګ بلقیس او قوم د هغے وو او حدیث کښ وارد دی چه د نمر د طلوع او غروب په وخت کښ عبادت کوونکی د شمس هغے ته سجدے لګوی۔ او دا هغه خلق دی چه د رڼا عبادت کوی نو دا په اصل کښ د مجوسیانو یوه ډله ده۔ اَلَّذِيْ خَلَقَهُنَّ ضمیر راجع دے اللیل والنهار والشمس والقمر ته یا صرف شمس و قمر ته (سوال) چه په ماقبل مرجع کښ مؤنث یو دے چه شمس دے او درے مذکر دی نو پکار دو چه مذکر له ئے تغلیب ورکړے وے په مؤنث باندے؟ (جواب) په تانیث کښ اشاره ده د دوی ضعف او کمزورئے ته بل دا چه اکثر مشرکین عبادت د نمر ډیر کوی په نسبت د سپوږمئ، د هغے عبادت کوونکی لګ دی نو د دے وجے نه ضمیر د مؤنث ئے ذکر کړو۔ اِنْ كُنْتُمْ اِيَّاهُ تَعْبُدُوْنَ یعنی مشرکان هم دعوے کوی چه مونږ د الله تعالیٰ عبادت کوو نو اشاره ئے اوکړه چه عبادت په شرع کښ توحید دے نو که بندګی د الله تعالیٰ په طریقه د توحید سره کول غواړئے نو غیر الله ته سجدے مه کوئے او په دے ایت کښ اشاره ده چه مشرکان ډیر بے عقله دی ځکه چه دلیلونه د توحید ئے معبودان ګرځولے دی۔

۳۸:۔ دا زجر دے په پریخودلو د سجدے سره د دے وجے د استکبار ته پشان د ابلیس۔ بِالَّيْلِ وَالنَّهَارِ مراد د دے نه دوام دے وَهُمْ لَا يَسْئَمُوْنَ اشاره ده

أَنَّكَ تَرَى الْأَرْضَ خَاشِعَةً فَإِذَا أَنْزَلْنَا

چه ته وینې زمکه اُوچه نو کله چه اورَوو مونږ

عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ ۚ إِنَّ الَّذِي

په هغې باندے اوبه تازه شی او بوګه شی یقینًا هغه ذات

أَحْيَاهَا لَمُحْيِي الْمَوْتَىٰ ۚ إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ

چه دا ئې تازه کړه خامخا ژوندے کوونکے دَ مړو دے یقینًا هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٩﴾ إِنَّ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ

شئ باندے قدرت لری ۔ یقینًا هغه کسان چه کږ لیچ کوی

فِي آيَاتِنَا لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا ۗ أَفَمَنْ يُلْقَىٰ

په آیا تو نو زموږ کښ نه شی پټیدے زموږ نه آیا نو هغه څوک چه غورځولے کیږی

چه تسبیح وئیل دَ ملائکو دَپاره امر تکوینی دے لکه انسان چه سا اخلی او په هغې باندے نه ستړے کیږی نو معلومه شوه چه دَ تسبیح سره ملائک نورکارونه هم په امر دَ الله تعالیٰ سره کولے شی تسبیح وئیل دوی له دَ نورو کارونو نه منع کوی۔

۳۹۔ دا بل دلیل عقلی دے او اشاره ده چه په باران سره په زمکه کښ انقلاب پیدا کیږی دارنګ په قرآن بیا نولو سره په خلقو کښ انقلاب پیدا کیږی۔

خَاشِعَةً اوچه او شاړه او دوړو والا چه بوټی پکښ نه وی۔ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ دا حالت مخکښ دَ بوټی راوتلو نه وی یعنی زمکه په وخت دَ بوټی راوتلو کښ او خوزیګی یعنی ځائے دَ راوتلو فراخه شی او دا زمکه او پړسیږی یعنی نرمه شی خو ښا په دے معنیٰ باندے په عبارت کښ تقدیم او تاخیر دے یا دا روستو دَ بوټی راوتلو نه صفتونه دَ بوټی دی زمکے ته ئې نسبت مجازیه دے یعنی تیغ دَ بوټی په وخت دَ راوتلو کښ اوخوزیګی او بیا پورته شی بره طرف ته او دارنګ په سورة حج ۵ کښ تیر شویدی۔ إِنَّ الَّذِي أَحْيَاهَا دا استدلال دے دَ دے حالت نه په دوباره ژوند ثابتولو باندے او دارنګ دا تذکیر دَ قیامت دے یعنی هر کله چه انسان خپل فصل دَ زمکے اوینی نو هغے نه چه دَ دنیا دَ محبّت دَ وجے نه بعث بعد الموت هیر کړی۔

فِي النَّارِ خَيْرٌ أَمْ مَنْ يَأْتِي آمِنًا يَوْمَ

په | اور کښ غورزه دے | او که هغه څوک چه راځي | په امن والا | په ورځ

الْقِيَامَةِ ۚ اعْمَلُوا مَا شِئْتُمْ ۖ إِنَّهُ بِمَا

دَ قيامت | عمل کوئ چه څه هم خوښه وي | يقيناً | الله تعالیٰ په هغه عملونو

تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤٠﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

چه کوئ تاسو ليدونکے دے . | يقيناً | هغه کسان | چه | کفر ئې کړے دے

بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ

په قران باندے | هرکله چه راغے دوی ته (هلاک به شي) | او | يقيناً | دا | کتاب | دے

عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ

عزتمند | . | نه شي راتلے دهٔ ته | باطل | دَ | مخکښ

سلک. دا متعلق دے دَ لا تسمعوا لهذا القرآن سره يعنی الحاد په آيا تونو کښ په دلے طريقه کوی چه خلق يئے دَ اوريدلو نه منع کوی او تحريف او باطل تاويلونه کوی او مقابلے کوی نو دوی لره زجر او تخويف ورکوی په درے طريقو سره
اوله طريقه لَا يَخْفَوْنَ عَلَيْنَا يعنی هر وخت الله تعالیٰ عالم دے او قادر دے دَ دوی په هلاکولو باندے۔
دويمه طريقه أَفَمَنْ يُلْقَىٰ الخ يعنی الحاد کوونکی به په اور دَ جهنم کښ پرے غورزيگی او مومنان به دَ جهنم نه په امن وی نو آيا دوی دواړه برابر دی؟ استفهام انکاری دے۔ او خير يئے دَ دے وجے نه نقل کړو چه په قرآن کښ الحاد کوونکے ځان غوره گنړی۔
دريمه طريقه اِعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ په دے ايت کښ اثبات دَ مشيت او ارادے دے دَ پاره دَ انسانانو که نيک وی يا بد۔
سلک ۴۲. دا هم زجر دے ملحدينو دَ قرآن ته سره دَ بيان دَ صداقت دَ قرآن نه په څلور صفتونو سره۔ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا دَ دے خبر پټ دے دَ پاره دَ تعميم دَ په حالے دَ هغوی يعنی تباه دی۔ عذاب به ورکړے کيږی۔ بے عقله دی۔ او ورکښ به پرے غورزيگی۔ مناديان دی وغيره۔ عَزِيزٌ دَ دے دير معنی دی او هغه ټولے مراد دی۔ عزت مند دے په نيز دَ الله تعالیٰ۔ غالب دے په هر کتاب باندے۔

يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ۭ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ
ذَ دهٔ نه او نه ذَ روستو ذَ دهٔ نه نازلول ذَ دهٔ ذَ طرف ذَ حکمت والا

حَمِيْدٍ ﴿۴۲﴾ مَا يُقَالُ لَكَ اِلَّا مَا قَدْ قِيْلَ
ستائيلي شوی نه - نه ويلے کيږی تا ته مګر هغه چه ويلے شوی دی

لِلرُّسُلِ مِنْ قَبْلِكَ ۭ اِنَّ رَبَّكَ لَذُوْ
رسولانو ته ستا نه مخکښ يقيناً ستا رب خاوند مالک

مَغْفِرَةٍ وَّذُوْ عِقَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَلَوْ جَعَلْنٰهُ
ذَ بخنے دے او مالک ذَ عذاب درد ناک دے - او که چرے نازل کړے وے موږ

بے مثله بے نظيره دے - ګران دے يعنی څوک يې مقابله نشی کولے.

لَا يَاْتِيْهِ الْبَاطِلُ باطل نه مراد تغيير او تبديل دے يا تکذيب دے يا شيطان دے.
مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ دوه طرفونه يې ذکر کړه مراد ترې هر طرف دے يعنی ذَ هيڅ جهت نه پکښ باطل (په دغه درے معانيو سره) نشی راتلے يا مراد ذَ دے نه تير شوی واقعات او راتلونکے پيشګوئې دی او باطل نه مراد تکذيب دے يا مراد دے نه مخکښ نازل کړے شوے کتابونه دی او روستو کتاب نازل کيدل دی يعنی تير شوے کتابونو کښ ذَ دے قرآن تکذيب نيشته او روستو هم ذَ دے نه منسوخ کوونکے نشی راتلے او دا دليل دے چه دا آخری کتاب دے چه په آخری نبی باندے نازل شويدے - (سوال) په اوله معنیٰ باندے سوال دا واريديګی چه ډيرو باطل پرستو خلقو ذَ دے قرآن تکذيب کړے دے او تحريف يې پکښ کړيدے ؟ (جواب) مراد دا دے چه تکذيب او تحريف پکښ نه چليږی يعنی که څوک اوکړی نو الله تعالیٰ ذَ هغوی په مقابله کښ داسے اهل علم پيدا کړی چه ذَ هغې ترديد اوکړی لکه چه حديث کښ وارد دی يَنْفُوْنَ عَنْهُ تَحْرِيْفَ الغالين وانتحال المبطلين وتاويل الجاهلين -

۴۳ :- دا تسلی ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته روستو ذَ ذکر ذَ ملحدينو نه او ذَ آيت دوه تفسيرونه دی اول دا چه مَا قَدْ قِيْلَ لِلرُّسُلِ نه مراد نسبت ذَ ساحر، کذاب، مجنون، ګمراه وغيره طعنونه کول دی - دويم دا چه مراد هغه وحی ذَ توحيد ده چه مخکښ رسولانو ته رالیږلے شويده نو په اوله معنیٰ کښ قِيْلَ ذَ خلقو ذَ طرف نه دے او په دويمه معنیٰ کښ راتلے په بيل مخ (

قُرْاٰنًا اَعْجَمِيًّا لَّقَالُوْا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ؕ

دا قرآن په ژبه عجمي خامخا دوی به ویل چه ولے نه دی جُدا جُدا ایاتونه دده

ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ ؕ قُلْ هُوَ لِلَّذِيْنَ

او آیا کتاب عجمي دے او پیغمبر عربي دے. ته اوایه دا دَ

اٰمَنُوْا هُدًى وَّشِفَآءٌ ؕ وَالَّذِيْنَ

مؤمنانو دپاره هدایت او شفاء ده او هغه کسان

لَا يُؤْمِنُوْنَ فِيْٓ اٰذَانِهِمْ وَقْرٌ وَّهُوَ

چه ایمان نه راوړی په غوږونو دَ هغوی کښ درونوالے دے او دا قرآن

عَلَيْهِمْ عَمًى ؕ اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ مِنْ مَّكَانٍ

په هغوی باندے حجت دے دغه کسان داسے دی لکه چه آواز ورکیدے شي دوی ته دَ ځائے

بَعِيْدٍ ﴿۴۴﴾ وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ

لرے نه - او یقیناً ورکړے دے موږ موسٰی علیه السّلام ته کتاب (تورات)

قِيلَ دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دے - اِنَّ رَبَّكَ الخ مستقل کلام دے تسلّی او بشارت دے مؤمنانو لره او تخویف دے منکرینو لره یا دا تفسیر دَ ما قد قیل دپاره دے یعنی بشارت وانذار دَ ټولو رسولانو وحی ده -

۴۴: دَ دے نه تر اخره پورے دریم باب دے په دے کښ جواب دَ دریم شبهے دے بیا سبب دَ عذاب ئے ذکر کړے چه هغه اختلاف في الکتاب دے بیا دلیل عقلی دے سرهٔ دَ تخویف اخروی نه بیا خلور زجرونه دی او اخر کښ اتم دلیل عقلی دے. په دے (۴۴) کښ جواب دَ شبهے دَ مشرکانو دے هرکله چه دَ قرآن او دَ رسول صداقت ذکر شو نو منکرینو بل اعتراض اوکړو چه دا قرآن په عجمے ژبے سره ولے نه راوړے خو معلومیږی چه دا تا دَ ځان نه جوړ کړے دے نو جواب اوشو حاصل جواب دا دے چه اوس خو تاسو یوه شبهه کوئے او که په عجمے ژبے باندے نازل شوے نو بیا به تاسو دوه اعتراضونه کولے یو دا لَوْلَا فُصِّلَتْ اٰيٰتُهٗ ځکه چه کوم تفصیل او وضاحت په لغتِ عربیه کښ دے هغسے په نورو لغتونو کښ نیشته دویم دا ءَاَعْجَمِيٌّ وَّعَرَبِيٌّ آیا کتاب عجمی دے او رسول عربي دے فرق په میځ دَ اعجمی او عجمی کښ دا دے اعجمی هغه

فَاخْتُلِفَ فِيْهِ ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِنْ

نو اختلاف کړے شویدے په هغې کښې او که چرے نه وے تیره د عذاب چه مخکښې مقرر شویده ستا د

رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۭ وَاِنَّهُمْ لَفِيْ شَكٍّ

رب د طرف نه نو اوس به فیصله کړے شوے وے په مینځ د دوی کښې او یقیناً دوی خامخا په شک کښې دی

مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۴۵﴾ مَنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهٖ

د دے نه پوخ شک . چا چه عمل کړے وی برابر د سنت سره نو خپلے فائدے د پاره دے

وَمَنْ اَسَاۗءَ فَعَلَيْهَا ۭ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۴۶﴾

او چا چه بد عمل کړے وی نو ضرور به ئے په هغه باندے وی او نه دے ستا رب هیڅ ظلم کوونکے په بندګانو باندے .

دے چه هیڅ وضاحت نشی کولے برابره خبره ده که عربی وی او که غیر عربی وی او عجمی
هغه دے چه د عربی نسبت نه وی اګرچه هغه هم کله فصیح و بلیغ وی پشان د عربو. قُلْ هُوَ
لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ دا بیان د فوائدو د قرآن دے لیکن په شرط سره چه هغه انابت یعنی طلب
د ایمان دے او هر کله چه دا شرط نه وی چه هغه مراد دے په لَا يُؤْمِنُوْنَ سره نو بیا د هغوی د پاره
نقصان دے. عَمًى دا مصدر دے او مضاف ئے پټ دے یعنی ذُوْ عَمًى. اُولٰٓئِكَ يُنَادَوْنَ دا اشاره ده
یا مثال د دوی ته یعنی دوی چه قرآن نه اوری نو مثال ئے د هغه سړی دے چه هغه ډیر لرے
وی او څوک ورته آواز ونه کوی نو هغه نه اوری او نه پوهیږی نو عبارت کښې تقدیر دے اولٰئک
مثل الذین ینادون. بعض مفسرینو ویلی دی چه دا به په قیامت کښې وی چه د دوی
د شرمنده کولو د پاره به دوی ته د لرے نه په ناکاره نومونو سره آواز ورکیدے شی نو بیا
تقدیر د عبارت ته حاجت نیشته دے.
۴۵: دا تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته لکه چه ستا کتاب قرآن کښې د دے خلقو
اختلاف دے نو دا رنګ په کتاب د موسٰی علیه السلام کښې اختلاف کړے شوے وو.
وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ دا جواب د سوال دے هر کله چه قرآن حق دے او دا خلق ئے انکار
کوی نو په دوی باندے عذاب ولے نه راځی حاصل د جواب دا دے چه د دوی عذاب
الله تعالٰی په حکم تقدیری سره روستو کړے دے او دا احسان د الله تعالٰی دے.
لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ضمیر راجع دے تقدیر او قضاء ته یا راجع دے قرآن ته.
۴۶: دا ذکر د فریقینو دے په وخت د اختلاف او د شک کښې او هر یو حال ئے ذکر
کړے دے. بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ دا صیغه د نسبت ده لکه حداد قصاب په دے کښې ذو مقدار
دے یعنی ذو ظلم دا صیغه د مبالغې نه ده.

إِلَيْهِ يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ ۚ وَمَا تَخْرُجُ مِنْ

خاص الله تعالیٰ ته ګرځولے شی علم دَ قیامت او نه را اوځی هیڅ

ثَمَرَاتٍ مِّنْ أَكْمَامِهَا وَمَا تَحْمِلُ مِنْ

میوے دَ خپلو کسوړو نه او حمل نه اخلی هیڅ

أُنثَىٰ وَلَا تَضَعُ إِلَّا بِعِلْمِهِ ۚ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ

زنانه او نه زیږوی حمل مګر په علم دَ الله تعالیٰ سره او په کومه ورځ چه اواز به ورکړی دوی ته

أَيْنَ شُرَكَائِي قَالُوا آذَنَّاكَ مَا مِنَّا

چرته دی شریکان زما (ستاسو په ګمان کښ) دوی به اُوائی خبر درکوو مونږ تا ته نیشته زمونږ نه

مِنْ شَهِيدٍ ﴿٤٧﴾ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا

هیڅ ګواهی کوونکے (په شریک باندے). او ورک به شی دَ دوی نه هغه (معبودان) چه

۴۷: دا دلیل دے په نفی دَ علم غیب سره دَ غیر الله نه په درے مثالونو سره یو ذکر دَ علم دَ قیامت دویم علم دَ پیدا کیدا او دَ میوؤ دریم علم دَ حمل دَ زنانو او علم مستلزم دے قدرت لره نو دا رد دے په مشرکانو باندے چه ستاسو شرکاء په دے کښ یو علم هم نه لری نو ولے دَ الله تعالیٰ سره شریک ګرځوئے او مناسبت دَ دے ایت دَ ماقبل سره په طریقه دَ علت دے دَ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ دَ پاره یعنی ظلم خو هغه څوک کوی چه علم او قدرت ئے نقصانی وی او الله تعالیٰ په هر غیب باندے عالم او قادر دے. إِلَيْهِ دا ئے دَ حصر دَ پاره مخکښ راوړے دے. يُرَدُّ عِلْمُ السَّاعَةِ یعنی دَ هر چا نه چه تپوس اوکړے شی دَ قیامت په باره کښ که پیغمبر وی او که جبریل وی او که ولی وی نو هغه جواب کوی چه والله اعلم نو دغه علم الله تعالیٰ ته اوګرځوی ځکه چه پخپله پورے علم نه لری. أَكْمَامِهَا جمع دَ کُم ده یعنی کسوړے او پوستکی دَ میوؤ چه او سپړلے شی نو میوه ترینه ښکاره شی. وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ أَيْنَ شُرَكَائِي دا نتیجه ده دَ دے دلیل چه قیامت کښ په مشرکانو ته معلومه شی چه زمونږ شرکاء عالم الغیب او قادر په نفع وضرر باندے نوو نو دَ دے وجے نه به دَ هغوی نه انکار اوکړی. شُرَكَائِي یعنی چه ستاسو په ګمان کښ زما شریکان وو. آذَنَّاكَ ماضی ئے دَ تاکید دَ پاره راوړے ده مراد ترینه اوس خبر ورکول دی. شَهِيدٍ شهادت کوونکے په وجود دَ شریک دَ الله تعالیٰ.

يَدْعُوْنَ مِنْ قَبْلُ وَظَنُّوْا مَا لَهُمْ

بلل په دوی مخکښې دَ دے ته او دوی په گمان اوکړی چه نيشته دوی لره

مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿۴۸﴾ لَا يَسْـَٔمُ الْاِنْسَانُ مِنْ

دَ تختيدو ځائے . نه ستړے کيږی انسان (بعض) دَ

دُعَآءِ الْخَيْرِ ۫ وَاِنْ مَّسَّهُ الشَّرُّ فَيَئُوْسٌ

دُعا غوښتلو دَ خير نه او که چرے اورسی هغه ته مصيبت نو نا اُميده کوونکے

قَنُوْطٌ ﴿۴۹﴾ وَلَئِنْ اَذَقْنٰهُ رَحْمَةً مِّنَّا مِنْۢ بَعْدِ

تنده تريدونکی وی. او که چرے اوڅکوو موږ انسان ته رحمت زمونږ روستو

ضَرَّآءَ مَسَّتْهُ لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ ۙ وَمَآ اَظُنُّ

دَ تکليف نه چه رسيدلے وی دهٔ ته خامخا وائی دے دا زما حق دے او گمان نه کووم

سـ۴۸:. دا يو علت دے دَ انکار دَ شرک نه يعنی دَ دوی معبودان په دَ دوی نه غائب شی يعنی امداد له ئے نشی راتللے که بزرگان وی نو جنت ته به لاړشی او که تاکاره خلق وی نو هم په دَ خپلو عاېداتو نه په دَ ډه شی او يل علت دا دے چه دَ تيختے طرف ئے نيشته نو مجبورًا به دَ شرکاء نه انکار کوی. مَا لَهُمْ مَا حرف نفی دے منع کوونکے دَ فعل دَ ظنوا لره دَ عمل کولو نه.

سو۴۹:. دا اول زجر دے يعنی لکه چه په قيامت کښې دَ دے مشرکانو حال په بدل شی نو دا رنگ دَ دوی حال په دنيا کښې گرځيدونکے دے. يعنی انسان په حال دَ طلب دَ خير کښې هر وخت زيات غواړی نه ستړے کيږی او نه مړيږی مالونه اولاد مرتبے دَ دنيا غواړی او په حال دَ تکليف کښې يعنی که چرے يو دُعا دَ خير او تمنّا دَ دنيا ئے پوره نشی نو دَ الله تعالیٰ نه نا اميده شی کاره کوی نو الله تعالیٰ سره مخالفت او دشمنی شروع کړی.

يَئُوْسٌ قَنُوْطٌ فرق دَ دے دواړو دا دے چه يَئُوْسٌ دَ زړه سره تعلق لری او قَنُوْطٌ دَ ظاهر سره تعلق لری او اول حال دَ کافر دے لکه په سورة يوسف سـ۸۷ کښې او دويم حال دَ گمراه دے لکه په سورة حجر سـ۵۶ کښې.

اَلسَّاعَةَ قَآئِمَةً ۙ وَّلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ

په قيامت پاتدے قائميدونکے او که چرے اوګرځولے شوم زه خپل رب ته

اِنَّ لِيْ عِنْدَهٗ لَلْحُسْنٰى ۚ فَلَنُنَبِّئَنَّ

يقينًا ما لره دَ هغه سره خامخا خوشحالي ده نو ضرور خبر به ورکړو موږ

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِمَا عَمِلُوْا ؗ وَلَنُذِيْقَنَّهُمْ

کافرانو ته په هغه عملونو چه دوی کړيدی او خامخا به څکوو موږ دوی ته

مِّنْ عَذَابٍ غَلِيْظٍ ۝ ۵۰ وَاِذَآ اَنْعَمْنَا

دَ عذاب ډير سخت نه - او کله چه نعمت اوکړو موږ

عَلَى الْاِنْسَانِ اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ ۚ وَاِذَا

په انسان باندے توبخ واړوی او لرے کړی خپله ډډه او کله چه

مَسَّهُ الشَّرُّ فَذُوْ دُعَآءٍ عَرِيْضٍ ۝ ۵۱ قُلْ

اورسيږی ده ته مصيبت نو خاوند دَ دُعا پلنے وی - ته اُوايه

۵۰ :- دادويم زجر دے په ناشکرئے کولو دَ نعمت دَ الله تعالیٰ په درے طريقو سره اول داچه لَيَقُوْلَنَّ هٰذَا لِيْ يعنی دا زما حق دے په الله تعالیٰ باندے بسبب دَ علم اودَ عمل زما يعنی دَ الله تعالیٰ په ما باندے هيڅ احسان نيشته دے يا مراد دا دے چه ما نذرونه دَ غيرالله ډير ورکړيدی او دَ هغوی دَ قبرونو ډم خدمتونه کړيدی نو دَ هغے وجے نه زما ته دا تکليف لرے کيدل زما حق دے - دويم وَمَآ اَظُنُّ السَّاعَةَ قَآئِمَةً - دريم وَلَئِنْ رُّجِعْتُ اِلٰى رَبِّيْٓ اه يعنی ول خو دَ قيامت ته انکار کوی او بيا وائی چه پرواه ډم نيشته چه ماله په دنيا کښ زما دَ حق دَ وجے نعمتونه ئے راکړے دی نو دا رنګ به اخرت کښ زما حق دے چه ماله به جنّت اوخوشحالی را کوی - بيا دوه جملو سره دَ دوی تخويف ذکر کوی جمله اول کښ مطلب دا دے چه دَ دوی دَ مشرکانه عملونو حقيقت باندے به ئے خبر کړم چه دا برباد دی اودويمه جمله کښ دَ هغه ناکاره اعمالو او اقوالو سخته سزا به وی -

۵۱ :- دادريم زجر دے په ګنهاوو کارونو دَ انسان روستو دَ ذکر دَ اقوالو دَ ده نه - اَعْرَضَ وَنَاٰ بِجَانِبِهٖ يعنی دَ حق منلو نه مخ اوګرځوی او لرے لرے ترينه ګرځی دَ تکبر دَ وجے نه يا دَ دے وجے نه چه دَ حق پرستو سره بدنام نشی -

أَرَءَيْتُمْ إِنْ كَانَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ثُمَّ

خبر راکړئ ماته که چرې وی دا قرآن د طرف د الله تعالیٰ نه بیا

كَفَرْتُمْ بِهِ مَنْ أَضَلُّ مِمَّنْ هُوَ فِي

کفر کوئ تاسو په دې بانډې نو څوک لوئ ګمراه دې د هغه چانه چه هغه په

شِقَاقٍ بَعِيدٍ ﴿٥٢﴾ سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ

دشمنئ لرې کښ وی - زر دې چه اوبه خایو مونږ دوی ته دلیلونه خپل په غاړو د دنیا کښ

وَفِي أَنْفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ

او په نفسونو د دوی کښ تر دې چه ښه ښکاره په شی دوی ته چه دا

فَذُو دُعَاءٍ عَرِيضٍ هر کله چه عرض (پلنوالې) ئې ذکر کړو نو معلومه شوه چه طول به ئې ډیر وی ځکه چه د کوم څیز عرض وی نو طول ئې د هغه نه ډیر وی او مراد د دې نه کثرت دې - عَرِيضٍ کښ اشاره ده چه دغه یو حاجت بار بار ذکر کوی نور حاجتونه د الله تعالیٰ نه نه طلب کوی نو د یو څیز تکرار ته عرض ویلې کیږی او د ډیرو حاجتونو ذکر کولو ته طول ویلې کیږی او حاصل د دې ایت دا دې چه مشرک انسان په وخت د فراخۍ او د نعمتونو کښ خپل رب نه پیژنی او په وخت د سختۍ کښ الله تعالیٰ ته اوازونه کوی او دا مضمون سورة یونس او سورة نحل او سورة اسراء او سورة عنکبوت او سورة روم او لقمان کښ هم تیر شویدې - په ۴۹ کښ د یو نوع انسان ذکر وؤ چه هغه مرتد دې او دلته د بل نوع ذکر دې چه هغه عام مشرک دې -

۵۲ :- دا څلورم زجر دې په انکار د قرآن سره - إِنْ كَانَ دا په معنیٰ د إِذَا دې لیکن اَنْ ئې ذکر کړې دې د پاره د ارخاء عنان یعنی چه په وخت د دعوت او د مناظرې کښ مخاطب له د فکر کولو موقع ورکړی او واګې ورته سست کړی مَنْ أَضَلُّ دا په ځائې د جزاء د ان شرطیه کښ دې یعنی جزاء په حقیقت کښ پټه ده هغه داده الستم اضل الناس -

فِي شِقَاقٍ بَعِيدٍ انکار کول د قرآن نه سره د علم نه چه دا حق دې دې ته شقاق ویلې کیږی -

الْحَقُّ ؕ اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ اَنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ

حق دے آیا نه دے پوره رب ستا په دے صفت (سره) چه هغه په هر څیز باندے

شَهِيْدٌ ﴿۵۳﴾ اَلَآ اِنَّهُمْ فِیْ مِرْيَةٍ مِّنْ لِّقَآءِ

حاضر ناظر دے. خبر شئ یقیناً دوی په شک کښ دی د پیښے

رَبِّهِمْ ؕ اَلَآ اِنَّهٗ بِكُلِّ شَیْءٍ مُّحِيْطٌ ﴿۵۴﴾

د رب خپل نه خبر شئ یقیناً هغه هر څیز لره راګیروونکے دے.

۵۳ :- روستو د زجرونو نه ترغیب دے حق طرف ته او مراد د آیات نه دلیلونه عقلیه دی او هغه دوه قسمونه دی یو دلیلونه آفاقی او دویم انفسی دے یا دا تخویف دے او مراد د آیات نه واقعات د قومونو هلاکونو دی چه په مختلفو اطرافو د زمکه کښ د هغوی کهنډرات موجود دی او فی انفسهم نه مراد مرضونه او تکلیفونه بدنیه دی اِنَّهٗ ضمیر قرآن یا توحید یا رسول ته راجع دے.
اَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ دا اشاره ده دلیل وحی ته چه د الله تعالیٰ شهادت په حق باندے کافی دے نورو دلیلونو ته ضرورت نیشته که دا خلق پوهیدلے. اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِيْدٌ دا بدل دے د بربك نه یعنی د رب شهادت په توحید او په صداقت د رسول او د قرآن باندے کافی شهادت دے لکه کفی بالله شهیدا. یا لام تعلیله مقدر دے یعنی رب ستا کافی دے د پاره د معبودیت او د حاجت روائی او د مصیبت نه د بچ کولو ځکه چه هغه په هر څیز باندے حاظر ناظر دے او غیب دان دے او دا آخری دلیل عقلی دے په سورت کښ.
۵۴ :- روستو د اثبات د حق نه په دلیلونو سره په منکرینو باندے زجر دے او په لفظ د اَلَآ سره یے ذکر کوی. اشاره ده چه د دے منکرینو شك کول بنکاره دی او دارنګ احاطه د الله تعالیٰ په هر څیز باندے بنکاره ده او محیط کښ اشاره ده وعید او عذاب ته د پاره د منکرینو او احاطه په قدرت او علم سره هم مراد ده.

ختم شو تفسیر د حٰمٓ السجدة په فضل د الله تعالیٰ سره.

سُوْرَةُ الشُّوْرٰی ۴۲ مَکِّیَّةٌ ۶۲

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اٰیَاتُهَا ۵
رُکُوْعَاتُهَا ۵۳

حٰمٓ ۝۱ عٓسٓقٓ ۝۲ کَذٰلِکَ یُوْحِیْٓ اِلَیْکَ

الله تعالیٰ پوهه دے په مراد د دے پاندے . دغه شان د ی رالیږی تا ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سورة شوریٰ اویل نوم ئے سورة حٰمٓ عٓسٓقٓ دے

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په تیر شوی سورت کښ نهه صفات وو دَ قرآن نو په دے سورت کښ نهه صفات دی دَ قرآن والو۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ زجرونه معرضینو دَ قرآن ته او په دے سورت کښ دعوت دے فیصلے کولو ته په قرآن پاندے۔ دریمه وجه دا ده چه سورة سجده کښ ترغیب ورکړ دعوت الی الله ته او په دے سورت کښ دَ دعوت کوونکی لښ ذمه وارے ذکر کوی۔ څلورمه وجه دا ده چه په مخکنی سورت کښ ردونه په درے اقسامو دَ شرک پاندے نو په دے سورت کښ رد دے په شرک فی الولایة والتصرف پاندے۔

دعویٰ دَ دے سورت

رد دَ شرک فی الولایة دے او دَ ولایت دوه معنے دی تصرف او اختیار په کائناتو کښ دویمه معنیٰ اختیار دَ تشریع (یعنی شرع جوړول) او دا دعویٰ په لفظ دَ ولایت او په مرادف دَ هغے سره نفیًا او اثباتًا په دے آیاتونو کښ ده سـ۲ سـ۹ سـ۱۱ سـ۱۲ سـ۱۹ سـ۲۸ سـ۲۹ سـ۳۲ سـ۴۹ سـ۵۳ دا اثباتًا دی او په سـ۶ سـ۸ سـ۹ سـ۳۱ سـ۴۴ سـ۴۶ کښ دَ انفیًا دی۔ او په لفظ دَ حکم او تشریع او مرادف سره اثباتًا په سـ۳ سـ۷ سـ۱۰ سـ۱۳ سـ۱۵ سـ۲۷ سـ۵۱ سـ۵۲ کښ او نفیاً سـ۱۴ سـ۱۶ سـ۲۱ سـ۳۵ کښ۔ او دارنګ په دے سورت کښ جوابونه دی دَ درے شبهاتو ته۔

خلاصه دَ سورت

دا سورت تقسیم دے درے بابونو ته اول باب تر سـ۱۵ پورے دے په دے باب کښ جواب دا دے شبهے دے په تاکید دَ امر دَ وحی سره او اثبات دَ ولایت دے الله تعالیٰ لره او اثبات دَ امن دَ عالم دے په توحید سره۔ بیا نفی دَ ولایت ده دَ غیر الله نه او ترغیب دے قرآن ته بیا هم نفی دَ ولایت ده دَ غیر الله تعالیٰ نه بیا جواب دے دَ دویمے شبهے او دوه عقلی دلیلونه دی دَ پاره دَ اثبات دَ ولایت لِله تعالیٰ او اثبات دَ تشریع الٰهی دے او بیا جواب دَ دریمے شبهے دے۔

وَإِلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكَ ۙ اللَّهُ الْعَزِيزُ

او هغه کسانو ته چه ستا نه مخکښ دی الله تعالیٰ چه زورآور

الْحَكِيمُ ۝٣ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ۖ

او حکمت والا دے ۔ خاص دَ هغه په واک کښ دی هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څه چه په زمکه کښ دی

وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ ۝٤ تَكَادُ السَّمَاوَاتُ

او هغه پورته او لوئے شان والا دے ۔ نژدے دی اسمانونه

تفسیر

۱ ۔ ۲ :۔ دا مقطعات دی په شان دَ کٓهٰیٰعٓصٓ، هغه هم خماسی وو او دا هم۔ لیکن کٓهٰیٰعٓصٓ پیوست لیکلے شوے دے او دا دَ ډیرو قاریانو په نیز جدا جدا دے یعنی حٰمٓ ، عٓسٓقٓ ۔ دَ دے یو وجه دا ده چه هغه یو ایت دے او دا دوه ایاتونه دی۔ دریمه وجه دا ده چه دَ دے سورت نور امثال مخکښ او روستو کښ حٰمٓ دے نو په دے کښ یئے هم حٰم جدا اولیکلو ۔ دریمه وجه دا ده چه په کٓهٰیٰعٓصٓ کښ اتفاق دے چه هغه حروف تهجي مقطعات دی او هرچه دا دے نو بعض اهل علمو دا دَ حروفو نه شمارلے نه دی او حٰمٓ یئے فعل گرځولے دے۔ او دَ دے مفرداتو په مرکب ماخذونو مفسرینو ډیر اقوال نقل کړے دی غوره قول دے کښ هم هغه دے چه په نورو مقطعاتو کښ ذکر شو یدلے۔

۳ :۔ په دے ایت کښ ترغیب دے قرآن ته چه دا وحی ده دَ الله تعالیٰ پشان دَ وحی دَ انبیاء سابقینو او په دے کښ جواب دَ اولے شبهے دے۔ شبهه دَ منکرینو دا وه چه دے پیغمبر دَ داسے خیز دعویٰ کړے ده چه دَ دهٔ نه روړاندے هیچا نه ده کړے مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ ۔ او س هم چه څوک دعوت توحید ته ورکوی نو په هغه باندے هم داسے اعتراض کیږی۔ حاصل جواب دا دے چه دا نوے خیز او نوے خبره نه ده بلکه مخکښ انبیاء علیهم السّلام ته هم داسے راغلے وه كَذَٰلِكَ اشاره ده هغه ایاتونو او سورتونو ته چه دَ دے سورت نه مخکښ نازل شویدی او یوحی په معنیٰ دَ ماضی دے ځکه چه من قبلك ورپسے ذکر دے لیکن صیغه دَ مضارع ذکر کره ځکه چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په ژوند کښ هغه ته وحی جاری وه. بعض مفسرینو دَ ذَٰلِكَ مشار الیه حٰمٓ عٓسٓقٓ گرځولے دے۔

۴ :۔ په دے ایت کښ اثبات دَ تصرف او ولایت دے دَ الله تعالیٰ دَ پاره او رد

يَتَفَطَّرْنَ مِن فَوْقِهِنَّ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ

چه اوشکېږي | د | پره طرف نه | او ملائیک | تسبیح وائي

بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَيَسْتَغْفِرُوْنَ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ ؕ

سره د حمد | د رب خپل نه | او بخنه غواړي | هغه چا لره | چه | په | زمکه کښ دي

اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿۵﴾

خبر شئ | یقیناً | الله تعالیٰ | هغه | بخنه کوونکے | رحم | کوونکے | دے۔

دَ شرک فی التصرف دے او دا دَ هغه وحی خلاصه ده چه مخکښ ایت کښ کوم ذکر شوه نو دَ ټولے وحی حاصل توحید دے۔

ف:۔ په دے ایت کښ قباحت دَ شرک ذکر کوی چه هغه سبب دَ خرابے دَ عالم دے او عظمتِ شان دَ توحید چه هغه سبب دَ امن دَ دُنیا دے۔ مِن فَوْقِهِنَّ مِن دَ پاره دَ ابتداء دے یعنی دا انفطار په شور وشی دَ هر هغه اسمان نه چه اوچت دَ په بل اسمان باندے نو ضمیر راجع دے اسمانونو ته یا ضمیر راجع دے زمکو ته یا راجع دے جماعتونو دَ مشرکینو ته او علت دَ انفطار ذکر دے په سورة مریم ۹۱ کښ۔ وَالْمَلٰٓئِكَةُ يُسَبِّحُوْنَ دا جواب دَ سوال دے چه هر کله سبب دَ انفطار موجود دے نو ولے انفطار نه دے واقع شوے حاصل جواب دا دے چه مانع دَ دے نه تسبیح او حمد او استغفار دے یعنی ذکر دَ الله تعالیٰ په توحید سره او هر کله چه صرف دَ اسمانونو ذکر شوے دے نو دَ هغے او سیدونکی صرف ملائک دی نو ذکر دے وج نه دَ ملائکو تسبیح یئے خاص ذکر کړه نو اشاره ده چه دَ زمکے دَ انشقاق نه دَ بچ کیدلو دَ پاره دَ انسانانو مؤحدینو ذکر دَ توحید دے او دیته یو حدیث کښ اشاره ده چه " لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى لَا يُقَالَ فِي الْاَرْضِ اللّٰهُ اللّٰهُ " یعنی قیامت به هله قائم کیږی چه دَ زمکے نه توحید دَ الله تعالیٰ ختم شی۔ لِمَنْ فِي الْاَرْضِ دَ دے نه مراد صرف مؤمنان دی لکه په سورة مؤمن ۷ کښ تیر شوی دی لیکن هر کله چه بقا او امن دَ زمکے په سبب دَ مؤمنانو دے نو گویا که زمکے والا صرف دوی دی یعنی ذکر دَ عام دے او مراد تری نه خاص دے یا مراد استغفار نه تاخیر دَ عذاب دے۔ اَلَآ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ دا اشاره ده استجابت دَ استغفار دَ ملائکو ته چه الله تعالیٰ یئے قبلوی په مغفرت سره دَ رحمت نه۔ او بعضو اهلِ لطائف ویلی دی چه دَ دے ایت په اول کښ ذکر دَ هیبت او دَ رعب دَ او په اخر کښ ذکر دَ رحمت او دَ لطف دے

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءَ اللَّهُ

او هغه کسان چه نیولی دی بیوا دَ الله تعالی نه مدد ګاران الله تعالی

حَفِيظٌ عَلَيْهِمْ وَمَا أَنتَ عَلَيْهِم

ساتنه کوونکے دَ دوی دے او نه یئے ته په دوی باندے

بِوَكِيلٍ ۝٦ وَكَذَٰلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ

ذمه وار او دغه شان دی کړیدلے موږ تاته

قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ

قرآن دَ عربی ژبے دے دپاره چه ډیره وډکړے اصل دَ کلو ته او

حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لَا رَيْبَ فِيهِ

چاپیره دَ هغه نه او اویروے خاقولره دَ ورځ دَ جمع کیدالو نه چه شک نیشته په هغے کښ

فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ ۝٧

یوډله به په جنت کښ دی او بله ډله به په بل شوی اُور کښ دی۔

ـ۶ـ: په دے ایت کښ زجر دے په شرک فی الولایته باندے او تسلی ده رسول الله صلی علیه وسلم ته چه الله تعالی دَ دوی دَ حالاتو نه خبر دے که توفیق دَ توبے ورکوی او که نه ورکوی لیکن په تا باندے هیڅ ذمه واری نیشته۔ اَوْلِيَاءَ مراد دَ دے نه اختیارمند او واکدار دَ نفع وضرر دی او دارنګ اختیارمند دَ احکامو شرعیو ګنړل۔

ـ۷ـ: دا هم تسلی ده چه ته وکیل نه یئے لیکن انذار کوونکے یئے په وحی سره او په دے کښ صداقت دَ قرآن دے چه په دے کښ احکام شرعیه شته نو رو اولیاؤ ته ضرورت نیشته۔ وَمَنْ حَوْلَهَا مراد دَ دے نه ټوله دُنیا ده دا دلیل دے چه آخری نبی دَ ټولے دنیا دَ پاره پیغمبر دے نو دَ هغه نه روستو بل پیغمبر جوړیدالو ته ضرورت نیشته۔ وَتُنذِرَ اول انذار نه مراد توحید ته دعوت دے او دویم انذار سره مراد دَ قیامت اثبات دے۔ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ یعنی دَ انذار نه روستو به بعض خلق ایمان راوړی او بعض به انکار کوی او دارنګ دَ جمع کولو نه روستو به تقسیم شی یو جنت او جهنم ته یعنی همیشه به په یو ځائے کښ جمع نه وی۔

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَهُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً

او که چرے غوښتے الله تعالیٰ نو ګرځولے به یئے دوی یوه ډله

وَّلٰكِنْ يُّدْخِلُ مَنْ يَّشَآءُ فِىْ رَحْمَتِهٖ ط

لیکن داخلوی چالره چه اوغواړی په رحمت خپل کښ

وَالظّٰلِمُوْنَ مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِىٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ⑧

او ظالمان خلق نیشته دوی لره هیڅوک بچ کوونکے او نه مددګار۔

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ج فَاللّٰهُ

آیا نیولے دی دوی سوا د الله تعالیٰ نه مددګاران نو الله تعالیٰ خاص

هُوَ الْوَلِىُّ وَهُوَ يُحْىِ الْمَوْتٰى ز وَهُوَ عَلٰى

هغه مددګار دے او هغه به ژوندی کوی مړی او هغه په

كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ⑨ وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيْهِ

هر څیز باندے قدرت والا دے۔ او هغه چه اختلاف کوئے تاسو په هغے کښ

ف۸: دا جواب د سوال دے چه هر کله قرآن پوره هدایت دے او نبی صلّی الله علیه وسلّم کامل انذار کوونکے دے نو دا خلق ټول ولے ایمان نه راوړی حاصل جواب دا دے چه اختیار د هدایت د الله تعالیٰ سره دے۔ والظّٰلمون په دے کښ اشاره ده سبب ته چه کوم خلق یئے د هدایت نه محروم ګرځولے دی د هغے سبب ظلم او عناد د هغه خلقو دے۔

ف۹: دا هم زجر دے په شرک فی الولایة باندے په اوله جمله کښ او حصر د ولایت دے د الله تعالیٰ د پاره په دویمه جمله کښ او دا متعلق دے د "مَا لَهُمْ مِّنْ وَّلِىٍّ" سره چه په مخکښ ایت کښ ذکر شویدے۔ فَاللّٰهُ هُوَ الْوَلِىُّ حرف د فَآء دلالت کوی په شرط مقدر باندے که چرے دوی ولی برحق غواړی نو صرف الله تعالیٰ دے وَهُوَ يُحْىِ الْمَوْتٰى دا دلیل د ماقبل دے یعنی عجیبه لوئے تصرف چه بعث بعد الموت دے او قدرت په هر څیز باندے دا د الله تعالیٰ صفت دے دا صفتونه د دوی په اولیاؤ کښ نیشته نو د الله تعالیٰ سره شریک نشی کیدے۔

مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

چه هرڅه دي تو فیصله د هغې (راګرځي) الله تعالی ته دغه ذات الله تعالی

رَبِّيْ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ ۖ وَاِلَيْهِ اُنِيْبُ ﴿۱۰﴾

رب زما دے په هغه باندے ما ځان سپارلے دے او خاص هغه ته درګرځم -

فَاطِرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ جَعَلَ لَكُمْ مِّنْ

اول پیدا کوونکے د اسمانونو او د زمکے دے جوړکړیدي تاسو لره

اَنْفُسِكُمْ اَزْوَاجًا وَّمِنَ الْاَنْعَامِ اَزْوَاجًا ۚ

ستاسو د جنس نه جوړے او د څاروو نه هم جوړے

۱۰.. په دے کښ رد دے په شرک فے التحکیم باندے او عطف دے په رد
د شرك فے الولایة باندے چه په مخکښ ایت کښ وګ او دا جواب دے د
دویمے شبهې هغه داده چه منکرین وائي چه دا ته چه کومے مسئلے د توحید کوے
دا زمونږ د کتابونو نه مخالف دي زمونږ کتابونو کښ خو د شرک د جواز د پاره ډیر جزئیات
دي، دا اعتراض به یهود او نصاری په نبي صلی الله علیه وسلم باندے کوو او
مشرکینو عرب ته به یې خودلو او اوس هم باطل پرست خلق دا اعتراض کوي
حاصل جواب دا دے چه د تمامو اختلافاتو فیصله به په کتاب د الله تعالی او په
سنّت د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کوو - فَحُكْمُهٗٓ اِلَى اللّٰهِ نیشاپوري
په تفسیر کښ لیکلي دي چه دا حکم ټول امت ته شامل دے تر قیامته پورے
یعنی (تحاکموا الے الله ورسوله) فیصلے الله تعالی او د هغه رسول ته پیش
کوئ او قرطبي وائي چه امور او احکام شرعیه اختلافي کیږي ټول د بیان د
الله تعالی ته - ایت کښ اشاره ده رد د تقلید باطل ته یعني چه څوک د یو سړي
یا د یو کتاب خبره کتاب د الله تعالی او سنت د رسول ته نه پیش کوي او
هسے بے دلیله یې مني او چه دلیل ورته ښکاره شي نو بیا هم هغه خبره نه پریږدي.
ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبِّيْ دا علت د ماقبل دے په درے طریقو سره اوله دا چه فیصله
په الله تعالی د دے وجے نه پیش کوو چه هغه زمونږ رب دے دویمه طریقه
دا چه توکل په ټولو امورو کښ په الله تعالی باندے دے نو په احکامو کښ
هم د هغه په فیصله باندے اعتماد دے دریمه طریقه دا چه په هر وخت او کار
کښ الله تعالی ته زمونږ رجوع ده نو په هر حکم کښ به ضرور د هغه کتاب ته رجوع
کوو -

يَذْرَؤُكُمْ فِيهِ ۚ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۚ

خوره دی تاسو لره په دے انتظام کښې نیشته ده هغه پشان هیڅ څیز

وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ ⑪ لَهُ مَقَالِيدُ السَّمَاوَاتِ

او هغه هر څه اوری هر څه وینی - خاص هغه لره کنجیانے دَ آسمانونو

وَالْأَرْضِ ۖ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ

او دَ زمکے دی فراخوی روزی چه چا لره او غواړی

وَيَقْدِرُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ⑫

او تنګوی یقینًا هغه په هر څیز باندے عالم دے۔

۱۱ ۔۱۲ ۔ دا عقلی دلیلونه دی په رد دَ شرک فے الولایة والحکم باندے په لس جملو سره اول آیت کښې شپږ جملے دی او په دویم کښې څلور جملے دی حاصل ئے دا دے چه تصرف کوؤنکے په پیدائیش دَ آسمانونو او زمکے او دَ ازواجو په انسانانو او څارووُ کښې صرف الله تعالیٰ دے او بغیر دَ حاجت نه اسبابو نه او اختیار من دَ خزانو او دَ رزق په فراخولو او تنګولو سره او په هر څیز باندے علم لرونکے صرف الله تعالیٰ دے تو دَ هغهٔ سره په ولایت او حکم کښې شریک مه جوړوئے۔

يَذْرَؤُكُمْ دا فائده دَ تزویج (نکاح کولو) ذکر کوی چه افزائیش دَ نسل دے دا دلیل دے چه هر هغه منصوبه چه په هغے کښې نسل کشی کیږی دَ حکمت دَ تزویج نه مخالفت کول دی او دا نا جائز ده - فِيهِ ضمیر جعل مصدر ته راجع دے مراد تربیه دا تدبیر دَ زوجیت دے - لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ په دے کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ په دے تصرفاتو کښې اسبابو ته محتاج نه دے پشان دَ مخلوق او دا رنګ په مخلوق کښې هیڅوک دَ الله تعالیٰ سره په تصرفاتو دَ الوهیت کښې متشابه او مماثل نشی کیدے نو په دے جمله کښې نفی ده دَ تشبیه دَ الله تعالیٰ دَ مخلوق سره او نفی ده دَ اشراک دَ مخلوق دَ الله تعالیٰ سره او دا پوره مقصد دَ توحید دے - دَ دے وجے نه قرطبی دَ بعض علماؤ نه نقل کړیدی چه توحید اثبات دَ داسے ذات دے چه نه دے مشابه دَ نورو ذواتو سره او نه خالی دے دَ صفاتو نه او دَ واسطی نه ئے نقل کړیدی چه نیشته پشان دَ ذات دَ الله تعالیٰ بل ذات او نیشته پشان دَ نومونو دَ هغه دَ بل چا نوم او نیشته پشان دَ فعل دَ هغه هیڅ فعل او نیشته پشان دَ صفت دَ هغه دَ بل چا صفت مګر که وی نو صرف موافقت لفظیه به وی او پاک دے ربالعزت په بل مخ)

شَرَعَ لَكُمْ مِّنَ الدِّيْنِ مَا وَصّٰى بِهٖ نُوْحًا

(ښکاره) مقرر کړیدے تاسو لره دَ دین نه هغه چه پوخ حکم ئے کړے وُو په هغې سره نوح علیه السّلام ته

وَّالَّذِيْٓ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهٖٓ

او هغه چه وحی کړے دَه موږ تا ته او هغه چه پوخ حکم کړے وُو موږ په هغې سره

ذات دَ الله تعالیٰ دَ صفاتِ حادثه نه لکه چه دَ حادث دَ پاره صفتِ قدیمه محال دے او دا عقیده دَ اهل حق والسنة والجماعة ده۔

معلومه شوه چه دا آیت رد دے په مشبّهو او مجسّمو باندے چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ پاره صفات دَ لاس او سترگے او پورته والے او په عرش باندے کیناستل وغیره ثابته وی او وائی چه دا صفتونه بالکل دَ مخلوق دَ صفتونو پشان دی او څوک ورله دَ دے تشبیه سره جسم هم دَ مخلوق پشان ثابته وی او دا باطله عقیده ده. او که څوک دَ الله تعالیٰ دَ دے صفتونو نه انکار کوی په طریقه دَ تاویل جهمیه او منکرین صفات نو هغه هم صریح گمراه دے۔ صحیح مذاهب دَ سلف صالحین دے چه دَ الله تعالیٰ دَ پاره هغه صفتونه ثابتوی چه الله تعالیٰ ځان له په قرآن کریم کښ او نبی صلّی الله علیه وسلّم په احادیث صحیحه کښ هغه له ثابت کړے دی بغیر دَ تمثیل او تشبیه نه دَ مخلوق سره او بغیر دَ تاویل نه یعنی دَ هغې ظاهری حقیقی معانی مراد دی چه دَ ید معنیٰ لاس دَ عین معنیٰ سترگه ده او کیفیت دَ هغې موږ ته معلوم نه دے او تپوس دَ کیفیت دَ هغې بدعت دے۔ (سوال) مقصد خو دا دے چه دَ الله تعالیٰ مثل نیشته او دَ دے جملے معنیٰ دا ده چه دَ الله تعالیٰ دَ مِثلِ مِثل نیشته یعنی مثل ئے شته؟ (جواب) په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه ک زیات دَ پاره دَ تاکید دے یعنی دَ الله تعالیٰ مشابه نه په حرف سره ذکر کیدے شی او نه په اسم سره (حرف کاف او لفظ دَ مثل) دویمه وجه دا ده چه مثل په معنیٰ دَ ذات سره دے دریمه وجه دا ده چه مثل په معنیٰ دَ صفت سره دے څلورمه وجه دا ده چه په دے جملے سره نفی دَ مثل په طریقه دَ استدلال سره ده حاصل ئے دا دے که فرض کړے شی چه دَ الله تعالیٰ مثل شته نو الله تعالیٰ به دَ هغه مثل وی او قطعی فیصله داده (په دے جمله کښ) چه دَ الله دَ مِثلِ مِثل نیشته نو لازماً معلومه شوه چه دَ هغه مِثل څو هیڅوک شته دے نه۔ لَهٗ مَقَالِيْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مقالید کنجیانے دی لیکن ظاهره خبره ده چه مالک دَ کنجیانو مالک دَ خزانو وی نو مراد ترینه کنجیانے دَ خزانو دی دا رنگ سورة زمر ۶۳ کښ تیر شویدی۔

إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ أَنْ أَقِيمُوا

ابراهیم او موسیٰ او عیسیٰ علیهم السلام ته چه کلک او چلوئ

ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ ۚ كَبُرَ عَلَى ٱلْمُشْرِكِينَ

دین لره او ډلې مه جوړوئ په دې کښې ګران دے په مشرکانو باندې

مَا تَدْعُوهُمْ إِلَيْهِ ۚ ٱللَّهُ يَجْتَبِىٓ إِلَيْهِ

هغه دین چه ته بلنه کوې دوی هغې ته الله تعالیٰ راکاږی دین ته هغه چا لره

مَن يَشَآءُ وَيَهْدِىٓ إِلَيْهِ مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾

چه اوغواړی او هدایت ورکوی دے ته هغه چالره چه حق ته ورګرځی۔

۱۳: ۔ په دے کښې دلیل ذکر دے په رد دَ شرک فی الولایة والحکم باندے یعنی اختیار دَ تشریع دَ احکامو صرف دَ الله تعالیٰ سره دے او دا متعلق دے دَ فحکمه الی الله سره او دا رنګ توحید شرع دَ الله تعالیٰ ده په ټولو امتونو کښې نو دَ هغې خلاف مه کوئ دا دلیل دے چه شارع دَ احکامو صرف الله تعالیٰ دے او انبیاء علیهم السلام دَ شرع بیان کوونکی دی۔ شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مِنْ بیان دے دَ مَا روستنی دَپاره یعنی دین دَ سابقینو انبیاء علیهم السلام موستاسو دَپاره الله تعالیٰ لار مقرر کړے ده په دے کښې اشاره ده چه زمونږ دین کښې په ذریعه دَ قرآن او حدایث سره وضاحت او ظهور دَ مخکنو په نسبت سره ډیر دے دَ دے وجے نه زمونږ ملت ته الملة البیضاء لیلها کنهارها (الحدیث) ویلے شوے دے مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا اشاره ده چه اول تشریعی پیغمبر نوح علیه السلام وؤ یعنی چه توحید او نور احکام شرعیه ئے راوړے دی سره دَ مقابلے کولو نه دَ مخالفینو سره او په حدیث دَ شفاعت کښې هم راغلی دی چه نوح علیه السلام ته به په قیامت کښې دَ شفاعت طلبګاران وائی أَنْتَ أَوَّلُ رَسُولٍ بَعَثَهُ اللَّهُ إِلَى الْأَرْضِ او آدم علیه السلام خو اول نبی دے لیکن په هغه وخت کښې مخالفین دَ توحید او دَ شرع موجود نه وو۔ وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ دا عطف دے په لفظ دَ مَآ باندے۔ دین دَ نوح علیه السلام ئے اول ذکر کړو اشاره ده چه دا نور دین دے بیا وروستو دین دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کړو اشاره داده چه دا آخری دین دے نو اول او آخر ئے رومبے ذکر کړل او بیا ئے دَ مینځ دینونه ذکر کړل نو معلومه شوه (پاتے په بل مخ)

وَمَا تَفَرَّقُوْٓا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ

او دوی نہ دی جوپے کړی دوی مگر روستو دَ هغې نه چه راغې دوی ته

الْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۭ وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ

علم دَ وجې دَ ضدکولو په مینځ خپل کښې او که چرے نه وے نیلهٔ چه مقرر شویدہ مخکښې

چه دادین په اول او اخر او مینځ کښې یو شان دے۔ بیا هرکله چه دین دَ اخری نبی مقصود اصلی دے دَدے وجې نه په اَلَّذِیْ سره یئے ذکر کړه چه هغه اصل دَموصولاتو دے او په اوحینا سره یئے دَپاره دَتاکید ذکر کړو چه دَ اخری نبی دین دَ وحی نه پیدا نه دے او په وحی سره ثابت دے۔
وَمَا وَصَّیْنَا بِهٖۤ اِبْرٰهِیْمَ وَمُوْسٰی وَعِیْسٰۤی دَدوی تخصیص دَ دے وجې نه او شو چه دَدوی شرائع مشهور وو۔ اَنْ اَقِیْمُوا الدِّیْنَ دا بدل دے دَ ما وصّٰی نه یا بدل دے دَضمیر دَ بِهٖ نه یا دَ سر نه کلام دے یعنی هو اقامة الدین۔ اقامة نه مراد چلول دَهغه دین دی په خپل ځان کښې په عمل سره او په نورو خلقو کښې په دعوت سره په دلیلونو او په دفع دَ شبهاتو سره۔ الدِّیْنَ مراد دَدے نه هغه اصول دی چه په ټولو شرائعو کښې یو شان دی چه هغه توحید، مونځ، زکوٰۃ، روژے، حج، طاعت د احکامو دَ الله تعالیٰ، ایمانیات، تحریم دَ هر قسم کفر او شرک او احکام دَ زنا او قتل دروغ، ظلم، خیانت وغیره دی۔ وَلَا تَتَفَرَّقُوْا فِیْهِ دا تاکید دَ اقامتِ دین دے مراد تر ینه منع دَ افتراق نه ده په اصول دَدین کښې او هر چه فروع یعنی طریقے او جزئیات دی نو هغه په دینونو کښې جدا جدا دی لیکن هغې نه تفرق نه وپلے کیږی او دا رنګ هغه سبب دَ تفرق ګرځول نه دی جائز۔ کَبُرَ عَلَی الْمُشْرِکِیْنَ مَا تَدْعُوْهُمْ اِلَیْهِ دا علت دَ اقامة الدین دے یعنی مشرکان دادین نه غواړی او هغوی پکښې تفرق پیدا کول غواړی لیکن تاسو دَ هغې اقامت کوئے۔ په دے کښې اشاره ده چه څوک دین اسلام او توحید او دَهغې نور اصولو نه بد ګوری نو هغه مشرک دے۔ اَللّٰهُ یَجْتَبِیْۤ اِلَیْهِ مَنْ یَّشَآءُ دا متعلق دے دَ اقیموا الدین سره یعنی ستاسو په ذمه باندے دعوت دَدین دے او هدایت په اختیار دَ الله تعالیٰ کښې دے اجتباء او هدایت کښې یو فرق دادے چه اجتباء نه مراد نبوت ورکول دی او هدایت نه مراد توفیق دَ ایمان ورکول دی دویم دا چه اجتباء نه مراد توفیق دَ اقامتِ دین ورکول دی او دَ هدایت نه مراد توفیق دَ قبلولو دے او اجتباء صرف په اختیار دَ الله تعالیٰ سره ده په دے کښې دَ انسان دخل نیشته دَدے وجې نه من یشاء یئے اویل او دَ هدایت دَپاره اول انابت شرط دے دَدے وجې نه ینیب یئے ذکر کړو۔

مِنْ رَّبِّكَ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى لَّقُضِيَ بَيْنَهُمْ ؕ

دَ طرف دَ رب ستا نه تر نيټې مقررې پورې نو فيصله به شوې وه په مينځ دَ دوى كښ

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتٰبَ مِنْ بَعْدِهِمْ

او يقيناً هغه كسان چه پاتې كړے شوي دوى ته كتاب روستو دَ مشرانو نه

لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مُرِيْبٍ ﴿۱۴﴾ فَلِذٰلِكَ فَادْعُ ۚ

خامخا په شك كښ دى دَ دے نه پوخ شك. نو دے دَ پاره ته دعوت كوه

سـ۱۴ .- په دے ايت كښ جواب دے دَ دريمے شبهے هغه داده چه تاسو چه دعوت دركوئ كوم دين ته دَ دے نه ډير علماء مخالفت كوى نو معلوميږى چه دا دين صحيح نه دے؟ حاصل دَ جواب دادے چه مخالفت دَ دے علماؤ ته اعتبار نيشته ځكه چه دَ دوى تفرق او اختلاف دَ علم او دليل نه مخالف هم دے او دا رنګ دَ دوى مخالفت په ضد او عناد بانـدے بنا دے. او په دے ايت كښ زجر دے تفرق پيدا كوونكو ته او هم دا رنګ په سورة بقره سـ۷۶ آلعمران سـ۱۹ او سورة بينه سـ۴ او جاثيه سـ۱۷ كښ دى په قرينه دَ دغه اياتونو سره معلوميږى چه متفرقين نه مراد اهل علم دى.

او دَ عوامو دينى اختلاف ته تفرق نه ويلے كيږى ځكه چه فرقے جوړول دَ علماء كار دے عوام خو صرف مخالفت كوى. وَلَوْلَا كَلِمَةٌ الخ دا جواب سوال دے چه دوى كه چرے په باطله بانـدے وى نو عذاب وربانـدے ولے نه راځى اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى دلته لفظ دَ بِتَاخِيْرِهِمْ پټ دے.

وَاِنَّ الَّذِيْنَ اُوْرِثُوا الْكِتَابَ مِنْ بَعْدِهِمْ مراد دَ دے نه هغه عوام او نيمګړى ملايان دى چه دَ كتاب وارثان دى يعنى پوره علم ئے نه دے حاصل كړے لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ضمير دَ مِنْهُ راجع دے دين دَ توحيد ته چه مخكښ ايت كښ ذكر شويدے يا من اجليه دے او ضمير راجع دے تفرق دَ علماؤ دَ دوى ته، حاصل دادے چه غټو ملايانو دَ ضد او عناد دَ وجے نه دَ توحيد او دَ حق دين مخالفت اوكړو او دَ هغے په مقابله كښ ئے دَ شرك كتابونه اوليكل روستو نيمګړى ملايانو او اميانو دَ غټو علماؤ موافقت ئے اوكړو او دَ كتابونو دَ شرك تقليد ئے اوكړو او دَ توحيد نه ئے انكار اوكړو.

وَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَهُمْ ۚ

او تینګ شه لکه چه حکم کړے شوے تاته او تابعداری مکوه د خواهشاتو د دوی

وَقُلْ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٍ ۖ

او وایه چه ایمان راوړے دے ما په هغه چه نازل کړے د الله تعالیٰ چه هر کتاب دی

وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ رَبُّنَا

او حکم کړے شو یدے ماته چه انصاف اوکړم ستاسو په مینځ کښ الله تعالیٰ رب زموږ

وَرَبُّكُمْ ۖ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ ۖ

او رب ستاسو دے موږ لره عملونه زموږ دی او تاسو لره عملونه ستاسو دی

لَا حُجَّةَ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ۖ ٱللَّهُ يَجْمَعُ بَيْنَنَا ۖ

نیشته مینځ جګړه په مینځ زموږ او په مینځ ستاسو کښ الله تعالیٰ به جمع کوی په مینځ زموږ کښ

وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٥﴾ وَٱلَّذِينَ يُحَآجُّونَ

او خاص هغه ته ګرځیدل دی۔ او هغه کسان چه جګړه کوی

ف١٥۔ دَدے ایت نه تر ۳۵ پورے دویم باب دے په دے کښ ترغیب دے د دعوت ته په لس جملو سره بیا زجر دے مقابله کوونکو ته او هغوی ته دعوت دَ قرآن دے سره دَ تخویف نه بیا دریم دلیل عقلی دے سره دَ تزهید فی الدنیا نه بیا یو زجر دے په شرک فی التحکیم سره او تخویف او بشارت دے او دویم زجر دے په انکار دَ رسول سره دَ ترغیب الی التوبه۔ بیا درے عقلی دلیلونه دی او بیا تخویف دنیوی دے او دلیل عقلی دے۔

په دے (ف١٥) کښ ترغیب دے دعوت ته او دا علاج دے دَ پاره دَ دفع کولو دَ تفرق چه مخکښ ایت کښ تیر شو او په دے کښ دَ داعی دَ پاره لس جملے ذکر کوی او دا اداب دَ دعوت دی۔ فَلِذَٰلِكَ فَٱدْعُ لام اجلیه دے او ذلك کښ اشاره ده تفرق او اختلاف ته او مراد ترینه دفع کول دَ هغے دی معنیٰ دا ده، "دَ وجے دَ دفع کولو دَ تفرق او اختلاف ته دعوت دَ حق کوه" یا لام په معنیٰ دَ الیٰ دے او ذلك اشاره ده دین دَ توحید ته چه په ١٣ کښ ذکر شوے وو یا اشاره ده قرآن ته او فاء یے دوه کرته ذکر کړه دَ پاره دَ تاکید چه په اصل کښ دوه جملے دی (ادع لذلك۔ لذلك ادع)۔ أَهْوَآءَهُمْ مراد ترینه بے دلیله مسئلے دی

فِی اللّٰهِ مِنْ بَعْدِ مَا اسْتُجِیْبَ لَهٗ حُجَّتُهُمْ

په توحید دَ الله تعالٰی کښې روستو دَ هغې نه چه قبولیت کړے شو ییدے دَ هغې نو دلیل دَ دوی

دَاحِضَةٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ وَّلَهُمْ

باطل دے په نیز دَ رب دَ دوی او په دوی باندے غضب دے او دوی لره

عَذَابٌ شَدِیْدٌ ⑯ اَللّٰهُ الَّذِیْٓ اَنْزَلَ

عذاب سخت دے۔ الله تعالٰی هغه ذات دے چه نازل کړے دے

الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ وَالْمِیْزَانَ ؕ وَمَا یُدْرِیْكَ

کتاب دَ حق دَ پاره او تله او څه څیز تا له خبردار کوی په بابِ دَ قیامت کښې

لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِیْبٌ ⑰ یَسْتَعْجِلُ بِهَا الَّذِیْنَ

یقیناً قیامت خو نزدے دے۔ په تلوارے غواړی دے لره هغه کسان

چه ملا یا تو دَ ګان ته جوړے کړے دی وَقُلْ اٰمَنْتُ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ یعنی هر کله چه مخالفین استدلال کوی په نورو کتابونو دَ پاره دَ اثبات دَ شرک او بدعت نو ته جواب کښې اُووایه چه زه صرف منزّل کتاب باندے ایمان لرم۔ لِاَعْدِلَ بَیْنَكُمْ یعنی عدل طرف ته دعوت درکوؤم لَاحُجَّةَ بَیْنَنَا وَبَیْنَكُمْ حجه په معنیٰ دَ خصومت او جګړه کولو دے یعنی په ابتدا دَ دعوت کښې جګړه کول نیشته صرف دعوت کول دی توحید ته په دلیلونو سره۔

۱۶ :۔ دا تسلّی ده دعوت کوؤنکی ته چه ستا دَ مخالفینو دلیلونه باطل او بے کاره دی دَ هغې پرواه مکوه۔ اُسْتُجِیْبَ لَهٗ یعنی ډیرو هوښیارو خلقو دَ الله تعالٰی دعوت دَ توحید قبول کړے دے، نو دا هم یو الزامی حجت دے په منکرینو باندے۔ حُجَّتُهُمْ دا حجت دے په ګمان دَ دوی کښې۔ وَعَلَیْهِمْ غَضَبٌ اه دا تخویف دَ عذاب دَ دُنیا او دَ آخرت دے۔

۱۷ :۔ په دے کښې ترغیب دے حجت دَ الله تعالٰی ته روستو دَ ابطال دَ حجت دَ مخالفینو نه۔ الْكِتٰبَ مراد ترینه جنسِ کتابونه مخکنی دی وَالْمِیْزَانَ مراد دَ دے نه قرآن کریم دے یا مراد دَ دواړو نه قرآن دے او عطف دَ صفت دے په صفت باندے یا مراد دَ المیزان تحقیق دَ دلیلونو دے دَ پاره دَ فرق دَ حق او باطل دَ دے دَ پاره چه طریقه دَ اهل جهل او تقلید نه پیژنی۔ "سراج المنیر" (پاتے په بل مخ)

لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا ۚ وَالَّذِينَ آمَنُوا مُشْفِقُونَ

چه ایمان نه راوړی په دے یاندے او هغه کسان چه ایمان راوړی او یریږی

مِنْهَا وَيَعْلَمُونَ أَنَّهَا الْحَقُّ ۗ أَلَا إِنَّ الَّذِينَ

د قیامت نه او یقین کوی چه یقیناً دا (قیامت) حق دے خبر شئ یقیناً هغه کسان

يُمَارُونَ فِي السَّاعَةِ لَفِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿١٨﴾

چه جګړه کوی په باره د قیامت کښ خامخا په ګمراهئ لرے کښ دی۔

اللَّهُ لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ يَرْزُقُ مَن يَشَاءُ ۖ

الله تعالیٰ پوره مهربانی کوی د بندګانو خپلو سره روزی ورکوی چاله چه اوغواړی

وَهُوَ الْقَوِيُّ الْعَزِيزُ ﴿١٩﴾ مَن كَانَ

او الله تعالیٰ قوت والا دے زور آور دے۔ څوک چه

او دا رنګ سورة حدید ۲۵ کښ هم شته، وَمَا يُدْرِيكَ په دے کښ اشاره ده تیزئ ورکولو ته په عمل کولو د قران یاندے مخکښ د راتلو د قیامت نه چه ناګهانه به راځی وَمَا يُدْرِيكَ د دے دویم مفعول حذف دے (وقت الساعة) او ما استفهام انکاری دے او دا لفظ چه کوم ځائے ذکر وی نو په هغه ځائے کښ ئے علم نبی ته نه وی ورکړے نو د قیام د قیامت معیّن تاریخ ئے نبی صلی الله علیه وسلم ته نه دے خودلے. لَعَلَّ السَّاعَةَ قَرِيبٌ دا مستقل کلام دے ساعة په معنیٰ د بعث دے یا وقت الساعة یا مجی الساعة د دے وجه نه ئے قریب مذکر راوړو - او یا قریب په معنیٰ د ذو قرب سره دے -

سا ۱۸ :۔ په دے کښ ذکر د حال قیامت دے او زجر دے منکرینو ته په استعجال او مراء (جګړه کولو) سره او مدح د مؤمنانو ده اشفاق او یقین کولو یاندے. الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِهَا په دے لفظ کښ اشاره ده چه د دوی دا استعجال د وجه د محبّت نه نه دے بلکه د وجه د استهزاء نه دے مُشْفِقُونَ اشفاق هغه خوف د زړه دے چه اثر ئے په اندامونو یاندے ښکاره شی - او اشفاق مستلزم دے عدم استعجال لره نو دا صفت مقابل دے د صفت د یستعجلون سره -

سا ۱۹ :۔ دا دلیل عقلی دے په رد د شرک فی الولایة والحکم یاندے او لَطِيفٌ بِعِبَادِهِ کښ اشاره ده چه لوئے لطف او مهربانی انزال د قران دے -

يُرِيدُ حَرْثَ الْآخِرَةِ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ

اراده کوی (په عمل خپل سره) کټه د اخرت زیات ورکوؤ مونږ ده لره په کټه د هغه کښ

وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا نُؤْتِهِ

او څوک چه اراده کوی په عمل خپل سره کټه د دنیا ورکوو مونږ ده ته

مِنْهَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ ﴿٢٠﴾

د هغې نه او نه به وی ده لره په اخرت کښ هیڅ برخه ۔

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ

ایا شته دے دوی شریکان (د الله تعالیٰ سره) چه جوړ کړے وی دوی لره د دین نه

تفسیر قرطبی کښ دَلطیف نَسّ معانی ذکر کړے دی او امام رازی وئیلی دی چه دا لفظ مشتمل دے په دے اوصافو د علم پاندے په باریکوا مورو سره او رحمت خاصه دے او رفق (مهربانی) ده ۔

يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ د رزق مختلف حالتونو ته اشاره ده که بسط سره وی یا په تنګسیا سره وی ۔

ﺳﺒـ٢ ۔ روستو د ذکر کولو د رزق د دنیا نه ترهیب فی الدنیا او ترغیب الاخرت ذکر کوی ۔ حَرْثَ کروندہ کول دی مراد د دے نه جزاء ده او بعضې پټ دے یعنی په نیک عمل کښ اراده د جزاء د اخرت کوی یا برزقه پټ دے یعنی کوم مال چه الله تعالیٰ ورکړے دے نو په هغې سره اخرت کټی ۔ نَزِدْ لَهُ فِي حَرْثِهِ په دنیا کښ زیادت دا دے چه مال کښ ورله برکت اچوی او د نیک اعمالو توفیق ورکوی ۔ وَمَنْ كَانَ يُرِيدُ حَرْثَ الدُّنْيَا یعنی مال ذریعه او ګرځوی د دنیا د رفعت او عزت حاصلولو د پاره یا په نیک عمل کښ اراده د دنیا کوی یعنی عبادت او د دین کار قران لوستل وغیره د دنیا په نیت پاندے کوی او دا رنګ په سورة اسراء ﺣﺎﺷﻴﻪ ١٩ کښ تیر شوېدی ۔ وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ نَصِيبٍ په دے کښ اشاره ده چه چا په یو نیک عمل سره د دنیا اقتدار یا اجرت اراده کړے وی نو هغه اجرت اغستل په یا جائز وی یا ناجائز لیکن اخرت کښ به یې ثواب برباد وی او د دے ایت مطلب په حدیث صحیح کښ راغلی دے چه "انما الاعمال بالنیات وانما لکل امرئ مانوی" (هر عمل شرعی په نیت شرعی پاندے موقوف دے او د هر چا د پاره هغه فائده کوی چه څه نیت شرعی یې کړے وی) نو حاصل د ایت دا دے چه خپل عملونه او مالونه د اخرت په نیت سره خرچ کړے ۔

مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ ۚ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ

هغه څیزونه چه اجازت نه دی ورکړی د هغې الله تعالی او که چرې نه وې یه لیکلې شوې د فیصلې

لَقُضِيَ بَيْنَهُمْ ۗ وَإِنَّ الظَّالِمِينَ لَهُمْ

نو فیصله به (اوس) کړې شوې وې په مینځ د دوی کښې او یقیناً ظالمان دوی لره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢١﴾ تَرَى الظَّالِمِينَ مُشْفِقِينَ

عذاب دردناک دے - وینې به ته ظالمان ډیریدونکی

ف ۲۱ : دا زجر دے په شرک فی التشریع والحکم باندے متعلق دے د ف ۱۳ او ف ۱۴ سره یعنی په شرع او کتاب د الله تعالیٰ کښې خو شرک او دا کارونه مشرکانه جائز نه دی نو آیا دا کارونه دوی لره نورو الٰهو جائز گرځولے دی او نورو الٰهه یسوا د الله تعالیٰ نه خوښی کیدے نو معلومه شوه چه شرک کول په ټولو انواعو سره جائز نه دے۔ او د دے آیت نه ډیرے مسئلے معلومیږی اوله دا چه یو قسم د اقسامو د شرک نه شرک فی الحکم والتشریع دے او دے ته شرک فی الاطاعة او شرک فی التحلیل والتحریم هم ویلے کیږی۔ دویمه دا چه شارع په حقیقت کښې یو الله تعالیٰ دے که چرے پیغمبر باندے اطلاق کړے شویوی نو هغه به په معنیٰ د شرع بیا نوونکے وی۔ دریمه مسئله ائمه مجتهدین شرع جوړوونکے نه دی بلکه د دلیل شرعی نه احکام راویستونکی دی۔ نو کله به صحیح وی او کله به خطا وی. څلورمه مسئله یو امام مجتهد یا مفسر، استاد، پیر د تحلیل او تحریم اختیار منډ گنړل دا هم شرک دے پنځمه مسئله د کم یو عالم او پیر په کارونو د شرک او بدعاتو او فسق وفجور کښې تابعداری کول دا تقلید شرکی دے شپږمه مسئله د یو امام مجتهد تقلید په دے طریقه کول چه آیاتِ قرآنیه او حدیث صحیحه صریح نه قول د هغهٔ مخالف بنکاره شی لیکن بیا هم په قول د هغه امام باندے عمل کوی په دے بهانے سره چه دے زمونږ نه بنهٔ پوهیدلو دا تقلید هم گمراهی ده۔ او لفظ د مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ، دلالت کوی چه د یو امام او عالم او مقتدا په قول باندے دلیل د قرآن یا صحیح حدیث موجود وی نو د هغې تابعداری کول تابعداری د الله تعالیٰ ده او د رسول الله ده. او مراد د اذن نه دلیل شرعی دے چه کتاب الله او سنت دے۔ وَلَوْلَا كَلِمَةُ الْفَصْلِ دا جواب د سوال دے چه دا مذکوره کسان مشرکان دی نو په دوی باندے عذاب ولے نه راځی؟ حاصل جواب دا دے چه وعده د فیصلے ورځ د قیامت ده یا په

مِمَّا كَسَبُوْا وَهُوَ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ؕ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دَ هغه عملونو ته چه دوی کړے دی او (سزا) دَ هغې په دوی باندے راپریوتې ده او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے وی

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ ۚ لَهُمْ

او عملونه ئې کړے دی برابر دَ سنّت سره په باغچو دَ جنتونو کښې به وی دوی لره

مَّا يَشَآءُوْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ

په هغه څه وی چه دوی غواړی په نیز دَ رب دَ دوی دا فضل

الْكَبِيْرُ ﴿۲۲﴾ ذٰلِكَ الَّذِيْ يُبَشِّرُ اللّٰهُ عِبَادَهُ

ډیر لوے دے - دا هغه څیز دے چه زیرے ورکوی الله تعالیٰ بندګانو خپلو ته

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ؕ قُلْ لَّآ

دا هغه کسان دی چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړیدی په برابر دَ سنت سره ته اُووایه زه نه

تقدیر الٰهی کښې دَ دوی عذاب روستو دے - وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ دا اجمالی فیصله ده ظالم دلته هغه خوک دے چه شرع الٰهی ئې پریښے وی او په مالم یأذن به الله پسے روان وی ځکه دا شرک دے او شرک ظلم عظیم دے لکه په سورة لقمان سـ۱۳ـ کښې چه دی -

سـ۲۲ـ : په دے ایت کښې دوه ډلے ذکر کوی یو شرک فی التشریع کوونکی نو هغوی ته تخویف اخروی ورکوی او دویمه ډله مؤحدین چه په دلیل شرعی پسے روان وی نو هغوی ته بشارت اخرویه ورکوی وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ صالح عملونه هغه دی چه دَ دلیل شرعی سره موافق وی فِيْ رَوْضٰتِ الْجَنّٰتِ روضة هغې ته وائې چه په هغې کښې ډیر ښیښوالے او ډیر لذتونه وی نو معلومه شوه چه دَ جنّت په درجاتو کښې ډیر فرق دے او هرکله چه دَ اعلیٰ خلقو دَ پاره اعلیٰ درجات دی نو هغه مؤمنان چه په اعمالو کښې ئې قصور دے نو هغوی به هم په جنّت کښې وی اګرچه په لاندے درجاتو کښې به وی - ذٰلِكَ هُوَ الْفَضْلُ الْكَبِيْرُ فضل دلالت کوی چه دا جزا صرف په فضل دَ الله تعالیٰ سره ده نه په طریقه دَ وجوب او دَ استحقاق سره په الله تعالیٰ باندے لکه چه معتزله وائې - الْكَبِيْرُ هغه دے چه دَ هغې حقیقت او وصف ته دَ مخلوق تصوّر نه وررسیږی -

أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ ط

غواړم ستاسو نه په دے باندے هيڅ بدله مګر چه مينه اوکړئ په نزديکت د الله تعالىٰ کښ

وَمَنْ يَقْتَرِفْ حَسَنَةً نَّزِدْ لَهُ فِيهَا حُسْنًا ط

او چا چه اوکړه نيکي زياتوو موږ د ده لره په هغے کښ خائست

إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ شَكُورٌ ﴿۲۳﴾ أَمْ يَقُولُونَ

يقيناً الله تعالىٰ بخښونکے قبلونکے د عملونو دے۔ آيا دوی وائي

۲۳:- د آيت په اول کښ تاکيد دے د تير شوی بشارت او تاکيد په پنځه طريقو سره
دے ۱ لفظ ذلك چه په اوچت والي د مرتبے د مشار اليه باندے دلالت کوی۔
۲ په بشارت سره مسمّٰی کول ۳ الله تعالىٰ بشارت ورکوونکے دے ۴ نوم د
مبشر لهم په عباد الله سره ۵ صفت د هغوی په ايمان او په عمل صالح سره۔
قُلْ لَّا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا هر کله چه په بشارت ورکولو کښ عادتاً خلق عوض
غواړی او هغه د اخلاص نه خلاف ذٔنو اُويلے شو چه پيغمبر صلى الله عليه وسلم
په دے باندے هيڅ عوض نه غواړی نه سوال حقيقتاً او نه سوال حکماً يعنی
طمع لرل هم نه کوی۔ إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَىٰ، (سوال) د پنځه انبياء عليهم السلام
نه په سورة شعراء کښ نقل کړے دی چه وَمَا أَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۱۰۹ ۱۲۷
۱۴۵ ۱۶۴ ۱۸۰ او دا رنګ زموږ نبی صلى الله عليه وسلم نه هم تصريح نقل کړے
ده په سورة انعام ۹۰ سورة ص ۸۶ او سورة سبا ۴۷ کښ نو په دے آيت کښ
په اجر کښ الا المودة في القربى ولے مستثنیٰ کړو يعنی دا اجر غواړم ؟
(جواب) اول دا چه دا استثناء منقطع ده يعنی اجراً باندے جمله ختم شوه او عبارت
کښ تقدير دے لکن اذکرکم واسألکم۔ دويم جواب استثناء متصله ده په طريقه
د ادعا او فرض کولو يعنی زه هيڅ قسم اجر نه غواړم او فرض کړئ که چيرے
مودة في القربى اجر وی نو هغه غواړم ليکن هغه خو اجر نه دے ځکه اجر دنيوی
هغه څيز ته ويلے کيږی چه په هغے سره دنيوی ترقی اجير ته حاصليږی او په مودة
في القربى سره خو فائده پيغمبر ته نه رسيږی او نه په هغے سره دنيوی ترقی د
هغه حاصليږی۔
فائده :- المودة في القربى کښ درے قولونه د مفسرينو دی اول قول
د مجاهد او د حسن بصری دے او قول د مجاهد لره قرطبی په سند مرفوع سره

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۚ فَإِنْ يَّشَإِ اللّٰهُ

چه جوړکړیدی دهٔ په الله تعالیٰ باندے دروغ تو که ادغواړی الله تعالیٰ

يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ ۗ وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ

مهر یه اولګوی زکه دروغ جوړ کړی کوی) ستاپه زړه باندے او ورانوی الله تعالیٰ باطل لره

نقل کړے دے هغه دا دے "چه غواړم ستاسو نه دا خبره چه مؤدت دَ الله تعالیٰ سره اوکړئ او هغه ته تقرب حاصل کړئ په طاعت سره" نو قُرْبٰی په معنیٰ دَ تقرب الی الله دے او دا سیٔ ظرف دَ مؤدت ګرځولے دَپاره دَ تاکید او دَ مبالغ. دویم قول دَ شعبی دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه قربیٰ په معنیٰ دَ قرابت نسبی دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم دے چه دَ قریشو دَ ټولو خاندانونو سره دَ هغه خپلولی وه نو معنیٰ دا ده "چه زهٔ خو ستاسو نه هیڅ اجر نه غواړم لیکن غواړم چه تاسو لحاظ اوکړئ زما دَ قرابت او دَ خپلولے" یعنی نور خلق چه پردی دی په ما باندے ایمان نه راوړی لیکن تاسو لره خو ضرور پکار دی چه په ما باندے ایمان راوړئ دَ خپلولے دَ وجے نه. دریم قول دَ کلبی او سدی نه نقل دے چه مراد دَ قربیٰ نه ذوی القرابت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دی چه هغه اهل بیت دَ هغهٔ دی یعنی "زهٔ ستاسو نه هیڅ نه غواړم لیکن دا غواړم چه زما دَ اهل بیتو سره مؤدت او محبت کوئ هغوی ته اذیت مهٔ ورکوئ". او هغه دَ هغهٔ ازواج مطهرات او آل دی. نو احترام او محبت دَ آل دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم اوکَ بیبیانو دَ هغهٔ سره لازم دے په امت باندے لیکن بغیر دَ افراط او تفریط نه. وَمَنْ يَّقْتَرِفْ دا عطف دے په پټ لفظ باندے یعنی ومن یقترف سیئة فعلیه وزرها یعنی چا چه بدی اوکړه (یعنی مودة فی القربیٰ) یئے اونکړو نو په هغه باندے دَ هغے ګناه دے. حَسَنَةً" مراد دَ دے نه اولاً مودة فی القربیٰ دے او نورے حسنے په کښ هم داخل دی. نَّزِدْ لَهٗ فِيْهَا حُسْنًا یو معنیٰ دا ده چه دَ هغه په زړه کښ دَ هغه نیکے حسن او محبت به دَ هغے سره زیات کړو دویمه دا چه ډیر ثواب به ورکوؤ. شَكُوْرٌ ښکاره کوی نیکے لره په ډیر اجر و ثواب ورکولو سره ځکه چه شکر په لغت کښ ښکاره کولو ته ویلے کیږی.

وَيُحِقُّ الْحَقَّ بِكَلِمٰتِهٖ ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ

او ثابتوي حق لره په خپلو کلمو سره یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے په هغه خبرو

الصُّدُوْرِ ﴿۲۴﴾ وَهُوَ الَّذِيْ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ

چه په سینو کښې دي - او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه قبلوي توبه

عَنْ عِبَادِهٖ وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ وَيَعْلَمُ

د بندګانو خپلو نه او معاف کوي د بدو نه او پوهه دے

مَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ وَيَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په هغه کارونو چه تاسو کوئے او قبلوي الله تعالیٰ (عملونه او دُعا) د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے

سے ۲۴:- دا زجر دے په انکار د رسول یعنې هغه څوک چه مودة فی القربیٰ ته کوي بلکه اُلټه هغه ته نسبت د افتراء کوي. فَاِنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يَخْتِمْ عَلٰى قَلْبِكَ د قتاده په نیز معنیٰ دا ده که اوغواړي الله تعالیٰ (په هغه وخت چه په زړه ستا کښې اراده د افتراء راشي) نو ستا په زړه باندے به مهر اولګوي بیا به هیڅ باندے ته پوهیږے لیکن د نبي صلی الله علیه وسلم په زړه باندے مهر نیشته هغه اقصم، ابلغ، اعقل دے د ټول مخلوق نه معلومه شوه چه افتراء ئے نه ده کړے دا سزا مختص وي په رسول برحق پورے یعنې رسول برحق که په الله تعالیٰ باندے بالغرض افتراء اوکړي نو په زړه باندے به ئے مهر راځي دا د دروغژن نبي په باره کښې ملازمه نیشته نو د مرزا غلام محمد کذاب د دے نه استدلال کول د ځان د رسالت د پاره غلط دے - او د مجاهد په نیز د يختم معنیٰ يربط او يصبر دے او آن په معنیٰ د اذا سره دے یعنې الله تعالیٰ به ستا زړه کښې ربط او صبر پیدا کوي په وخت د انکار د دوی کښې - وَيَمْحُ اللّٰهُ الْبَاطِلَ د مجاهد د معنیٰ په لحاظ دا عطف دے په يختم باندے او د قتاده د معنیٰ په لحاظ سره دا د سر نه کلام دے رد دے په منکرینو باندے الْبَاطِلَ نه مراد شبهات د منکرینو دي چه یوه شبه د هغې نه نسبت د افتراء کول دي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته -

سے ۲۵:- دا حال د من يقترف حسنة ذکر کوي او ترغیب دے توبے کولو ته د انکار د نبي صلی الله علیه وسلم نه. صحیح توبه دا ده چه په تیر شوي ګناه باندے په زړه کښې پښیمانه او خفه شي او فی الحال هغه ګناه پریږدي او ایئنده د پاره عزم اوکړي چه دا ګناه به بیا نه کوؤم - وَيَعْفُوْا عَنِ السَّيِّاٰتِ، هر کله چه

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَيَزِيدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ؕ
او عملونه يې کړي دي موافق دَ سنت سره او زياتي ورکوي دوی ته دَ فضل خپل نه

وَالْكٰفِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ ﴿۲۶﴾
او کافران چه دي دوی لره عذاب سخت دے۔

وَلَوْ بَسَطَ اللّٰهُ الرِّزْقَ لِعِبَادِهٖ لَبَغَوْا
او که فراخه کړے وے الله تعالیٰ روزی بندګانو خپلو لره خامخا سرکشی به يې کړے وے

فِي الْاَرْضِ وَلٰكِنْ يُّنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ؕ
په ملک کښې ليکن رالېږی الله تعالیٰ په اندازے سره څومره چه او غواړی

اِنَّهٗ بِعِبَادِهٖ خَبِيرٌ بَصِيرٌ ﴿۲۷﴾ وَهُوَ الَّذِي
يقيناً الله تعالیٰ په بندګانو خپلو باندے خبردار ليدونکے دے۔ او الله تعالیٰ هغه ذات دے

قبوليت دَ توبے کله دَ راتلونکے زمانے سره تعلق لری تو دَ تېر شوی ګناهونو ويره
باقی وه نو دا جمله يې ذِ دے دَپاره راوړه چه په تېر شوے ګناهونو باندے
نيول نه کوی وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ هغه کارونه که دَ خير وی او که دَ شر وی
که تېر شوے وی او که روستو زمانه کښې وی۔
۲۶:۔ دا نور اکرام او بشارت دَ مؤمنانو ذکر کوی وَيَسْتَجِيبُ دا عام دے
دُعاګانے قبولول او عبادتونه قبلول او سفارشونه دَ نورو روتړو دَپاره ټولو ته
شامل دے او دَ زيات تاکيد دَپاره يې يستجيب متعدی بالذات اوګرځوؤ۔
وَيَزِيدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ يعنی زيات دَ هغې نه چه دوی طلب کړے وی په
خپل فضل سره ورکوی۔
۲۷:۔ دا جواب دَ سوال دے چه هرکله الله تعالیٰ دَ مؤمنانو دعاګانے قبلوی
نو کله چه دوی فراخی دَ مال غواړی نو ولے نه ورکوی حاصل جواب داده چه
فراخی دَ رزق سبب دَ بغاوت دے نو دا دُعا دَ دوی دَپاره سبب دَ خير نه دے
ذ دے وجے نه يې نه قبلوی (سوال) ډير انبياء، صحابه کرام، اولياء شته
چه دَ هغوی رزق فراخ وؤ ليکن بغی يې خو نه ده کړے (جواب) اول دا دے
چه مراد دَ فراخے نه دَ ټولو دَپاره يو شان فراخی ده يعنی که ټول بندګان مالدار
شی نو يو بل ته به يې حاجت پاتے نه شی نو دهريات به شی (پاتے په بل مخ)

يُنَزِّلُ الْغَيْثَ مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا وَيَنْشُرُ

راوروی باران روستو دَ نا اُمیداه کیدلو دَخلقو نه او خوره دی

رَحْمَتَهُ ۚ وَهُوَ الْوَلِيُّ الْحَمِيدُ ﴿٢٨﴾ وَمِنْ آيَاتِهِ

رحمت خپل او هغه اختیارمند ستائیلے شوے دے . او بعض دَ دلیلونو دَ توحید نه

خَلْقُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَثَّ فِيهِمَا

پیدائش دَ اسمانونو او دَ زمکے دے او هغه چه خواره کړیدی په دَ دواړو کښ

مِنْ دَابَّةٍ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ جَمْعِهِمْ إِذَا يَشَاءُ

دَ ژوندو سرو نه - او الله تعالیٰ دَدوی په جمع کولو باندے کله چه او غواړی

قَدِيرٌ ﴿٢٩﴾ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ

قدرت لرونکے دے . او هغه چه اورسیږی تاسو ته څه مصیبت

نظامِ عالم به خراب شی عباداتِ مالیه به دَ دنیا نه ختم شی نو دَ دے وجے الله تعالیٰ بعض مالدار کړل او بعض فقیران . دویم جواب دا دے چه مراد دَ دے نه بعض خاص مؤمنان مراد دی چه الله تعالیٰ دَ هغوی دَ حال نه خبر دے که چرے هغوی له مالداری ورکړی نو فسادونه او کنا هونه به شورو کړی یا به زیاتی غواړی او په دنیا باندے به نه مړیږی.

۲۸ :- دا دلیل عقلی دے په توحید باندے او تفصیل دَ يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ دے یعنی سبب دَ رزق باران دے هغه الله تعالیٰ په خپل حکمت سره نازلوی. الْغَيْثَ فائده مند باران ته ویلے کیږی مِنْ بَعْدِ مَا قَنَطُوا مراد دَ دے نه مشرکان دی ځکه چه قنوط دَ رحمت دَ الله تعالیٰ نه دَ کافرانو صفت دے . یا قنوط نه مراد نا امیداه کیدل دی دَ نورو اسبابو نه سوا دَ الله تعالیٰ نه نو بیا مؤمنانو ته هم شامل دے. رَحْمَتَهُ دَ دے نه مراد بوټی او فصلونه دی .

۲۹ :- دا بل دلیل عقلی دے په رد دَ شرک فی الولایة باندے او دا دلیل په ډیرو دلیلونو باندے مشتمل دے ځکه چه علوی او سفلی او وسطی نظام ئے پکښ ذکر کړے دے او دَ توحید سره دَ قیامت اثبات ئے هم پکښ ذکر کړے دے .

مِنْ دَابَّةٍ دَابَّةٍ هغه ته وائی چه په زمکه ګرځی او هغه په عرف کښ خاروی دی بلکه انسانو ته ویلے کیږی نو په ملائکو باندے څه رنګ اطلاق

فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ ﴿۳۰﴾

نو په وجه دَ هغه عمل سره دے چه کړی دی لاسونو ستاسو او معاف کوی دَ ډیرو نه ۔

وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ ۖ وَمَا لَكُمْ

او نه یئ تاسو عاجزی کوونکی الله تعالیٰ لره په ټول ملک کښ او نیشته تاسو لره

مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿۳۱﴾

سوا دَ الله تعالیٰ نه هیڅ بچ کوونکے او نه مددګار ۔

صحیح کیږی اول جواب دا دے چه مراد دَ دابة نه هر ذی روح حرکت کوونکے دے نو ملائکو ته هم ویلے کیدے شی دویم جواب دا دے چه فیهما نه مراد یو دے یعنی زمکه او دَ تثنیه ضمیر کله دَ یو دپاره استعمالیږی لکه یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان لیکن دا په هغه ځیز کښ ذکر کیږی چه دوه ځیزونو نه یو شے پیدا شوے وی نو دابے په پیدا کیدلو کښ آسمانی او ارضی اسباب دَ دواړو شرکت دے لکه چه دَ لؤلؤ مرجان په پیدا کیدلو کښ دَ دواړو قسمه اوبو اختلاط دے ۔ دریم جواب دا دے چه آسمانی بعض ملائکو باندے دَ اوعال (صحرائی پیسانو) اطلاق په یو حدیث کښ کړے شوے دے چه دَ هغوی دَ ځنګانو نه تر سوو پورے دومره فاصله ده لکه په مینځ دَ آسمان او زمکے کښ ۔

۳۰ ۳۱ ۔ دا تخویف دنیوی دے یعنی ګناهونه سبب دَ مصیبت او دَ عذاب دنیوی دی داخطاب دے مؤمنانو ته چه دَ هغوی دَ بعض ګناهونو عقوبت په دنیا کښ ورکوی په ذریعه دَ مرضونو، غمونو، قرضونو وغیره سره او ډیر ګناهونه ورته بغیر دَ عقوبت نه معاف کړی او دا متعلق دے دَ ۲۵ سره ۔ یا داخطاب دے کافرانو ته یعنی هر کله چه دوی دَ توحید دَ دلائلو نه انکار کوی او په شرکیاتو کښ مشغول وی نو الله تعالیٰ په دَ بعض ګناهونو سزا په دنیا کښ ورکوی لکه سورة روم ۴۱ کښ ذکر دی او مراد یعفوا نه روستو کول دَ عذاب دی ۔ وَمَا أَنْتُمْ بِمُعْجِزِينَ دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو دپاره درے طریقے دی یو دَ انسان خپل قوت او زور دے نو هغه یئ نفی کړو په دے جمله سره او دویمه طریقه په ذریعه دَ دوست سره او دریمه طریقه نفس مددګار اګرچه دوست نه وی نو هغه یئ رد کړو په روستو جمله سره ۔

وَمِنْ اٰيٰتِهِ الْجَوَارِ فِى الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۳۲﴾

او بعض دَ دليلونو دَ توحيد دَهغه نه دى روانے كشتۍ په درياب كښ پشان دَ غرونو -

اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ

كه چرے او غواړى الله تعالىٰ نو اوبه دروى هوا نو هميشه به دى كشتۍ ولاړے

عَلٰى ظَهْرِهٖ ۭ اِنَّ فِىْ ذٰلِكَ لَاٰيٰتٍ لِّكُلِّ

په شا دَ درياب پاندے يقيناً په دے كښ ډير دليلونه دى هر

صَبَّارٍ شَكُوْرٍ ﴿۳۳﴾ اَوْ يُوْبِقْهُنَّ بِمَا كَسَبُوْا

ډير صبر ناك ډير شكر كښاندَ پاره - يا به هلاك كړى كشتۍ په وجه دَ عملونو

وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ ﴿۳۴﴾ وَّيَعْلَمَ الَّذِيْنَ

او معاف كوى دَ ډيرو نه - او چه يقين اوكړى هغه كسان

۳۲ ۳۳ ۳۴ ۳۵ - دا بل دليل عقلى دے په توحيد باندے چه تعلق لرى دَ تصرف سره په درياپونو كښ او ورسره تخويف دَ عذاب دے په درياب كښ كَالْاَعْلَامِ جمع دَ علم ده مراد ترينه غر دے يا لويه ماڼړے اِنْ يَّشَاْ يُسْكِنِ الرِّيْحَ اه يعنى كشتۍ جهازونه بغير دَ هوا نه نه شى چليدے خو هغه هوا معتدله رواته وى ليكن كله چه دَ اعتدال نه بهر شى نو يا به او دريږى نو كشتۍ به هم په درياب باندے او دريږى نو بيا دَ هغے دَ چليدلو دَ پاره هيڅ ذريعه نشى كيدے يا به ډيره تيزه شى نو دَ كشتۍ دَ ډوبيدلو سبب به اوګرځى صَبَّارٍ شَكُوْرٍ صيغے دَ مبالغے ئے دَ دے وجے نه ذكر كړے دى چه لږ صبر او شكر خو په كافرانو كښ هم شته دے نو مراد دَ صبار وشكور نه مؤمن دے او هر كله چه په سفر دَ درياب كښ ډير خطرات وى نو دَ هغے دَ پاره ډير صبر پكار دے او دَ هغے نه په نجات موندلو كښ ډير نعمتونه دى نو په هغے باندے ډير شكر پكار دے دَ دے وجے نه په سورة لقمان ۳۱ كښ هم دَ سفر دَ درياب سره دا صفت ذكر كړے دے - اَوْ يُوْبِقْهُنَّ دَ دے ذكر دَ يسكن الريح دَ لاندے صحيح نه دے ځكه چه ايباق (اهلاك او غرق) په هوا او دريدلو سره نه راځى نو معلومه شوه چه دلته عبارت پټ دے وَاِنْ يَّشَاْ يَجْعَلِ الرِّيْحَ عَوَاصِفَ - يعنى چه هوا دَ اعتدال نه كله بهر شى او تيزه شى نو موجونه را اوچت شى او كشتۍ غرقے شى - او دريدل دَ كشتو په درياب كښ لږه

يُجَادِلُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا ۭ مَا لَهُمْ مِّنْ مَّحِيْصٍ ﴿٣٥﴾

چه جګړه کوی په ایاتونو زمونږ کښې چه نشته دوی لره هیڅ ځائے د تختیدلو۔

فَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَمَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۚ

نو هغه چه درکړے شویدے تاسو ته هر څیز چه دے نو سامان د مزے د ژوند دنیوی دے

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او هغه چه د الله تعالیٰ سره دے غوره دے او همیشه دے د پاره د هغه چا چه ایمان لری

وَعَلٰي رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ ﴿٣٦﴾ وَالَّذِيْنَ

او په خپل رب باندے توکل کوی ۔ او هغه کسان

ډیره ده او غرقیدل ډیره ډیره ده او عذاب دے۔ وَيَعْفُ عَنْ كَثِيْرٍ د ډیر
ګناهونو یا د ډیر خلقو نه معافی کوی هر کله چه مؤمنان وی یا د عذاب نه
مهلت ورکوی کله چه مشرکان وی۔ وَيَعْفُ عطف دے په یوبقهن باندے
یعنی چه سیلئ تیزه شی نو بعض خلقو لره په لامبو وهلو یا د ځه تختے د پاسه
الله تعالیٰ په خپل قدرت سره نجات ورکړی یا يَعْفُ د سره کلام دے او
وَاوْ ترینه خلاف القیاس حذف شویدے۔ وَيَعْلَمَ دا عطف دے په پټ
عبارت باندے یعنی يُغْرِقْهُمْ لِيَنْتَقِمَ مِنْهُمْ وَلِيَعْلَمَ نو په دے کښې ان پټ
دے او دا متعلق دے د دواړه حالتونو سره یعنی هر کله چه کشتئ او دروی
یا غرقه ئے کړی نو د غه وخت کافران مشرکان پوهه شی چه زمونږ معبودان
مونږ له نجات نشی راکولے بلکه صرف الله تعالیٰ ته چغے وهی لکه دا سورت یونس،
عنکبوت، لقمان کښې تیر شویدی۔
۳۶۔ د دے ځائے نه دریم باب دے تر اخره د سورت پورے په دے کښې تزهید
فی الدنیا او ترغیب دے اخرت ته په ذکر د نهه صفتونو د مؤمنانو سره بیا تخویف
اخروی بیا ترغیب دے حکم د الله تعالیٰ ته سره د زجر نه منکرینو ته بیا عقلی
دلیل دے بیا په اخر کښې صداقت د قران او تاکید د وحی دے۔ په دے ۳۶
کښې تزهید فی الدنیا دے یعنی چاله چه الله تعالیٰ کشتئ ورکړے وی او په مختلفه
هواګانو کښې ګرځوی او د غرق نه یې وی دا خو د دنیا لره فائده ده نو په دے
سره تکبر کول او شرک کول او توحید د الله تعالیٰ هیرول جائز نه دی۔ وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ
دا ترغیب دے اخرت ته لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د اخرت د نعمتونو ر پاتے په یل مخ)

يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَاِذَا

چه ډډه کوی د غټو ګناهونو او د ښکاره بدکارو نه او کله چه

مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَالَّذِيْنَ

دوی غصه شی نو دوی بخنه کوی - او هغه کسان

اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاَمْرُهُمْ

چه قبلوی حکمونه د رب خپل او پابندی کوی د مونځ او کار د دوی

شُوْرٰی بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۸﴾

مشوره کول دی په مینځ د دوی کښ او د هغه مال نه چه مونږ ورکړے دے دوی ته خرچ کوی-

دَ حصول دَپاره ذريعه نهه صفتونه ذکر کوی او په دے ایت کښ دوه ذکر کړے دی ، ایمان ، توکل کول په الله تعالیٰ باندے ، په اول صفت کښ اشاره ده دَ شرک جلی نه بچ کیدلو ته او په دویم کښ اشاره ده ځان بچ کول دَ شرک خفی ته ځکه چه په توکل کښ دا معنیٰ ده چه دَ الله تعالیٰ نه سوا بل هیڅ څیز ته التفات نه کوی-

س۳۷ :- په دے کښ دریم او څلورم صفت ذکر کوی - هغه دواړه ایجابی صفتونه وو او دا دواړه سلبی صفتونه دی كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ هر هغه ګناه چه دَ هغے عقوبت ډیر او سخت وی شرک ، قتل ، زنا ، غلا دَ مور پلار نافرمانی ، جادو ، په دروغه قسم کول ، بهتان وغیره دا کبیره دی وَالْفَوَاحِشَ دا خاص دے پس دَ عام نه یعنی ګناهونو کښ هغه چه عقل او طبع ترینه هم نفرت کوی او دَ هغے قباحت هر عقل والا ته ښکاره وی لکه زنا ، دروغ دهوکه خیانت وغیره په کښ داخل دی -
وَاِذَا مَا غَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ مخکښ حقوق الله ذکر وو او په دے کښ حقوق العباد ذکر کوی او دا صفت دَ اعتدال دے یعنی که څوک دَ دهٔ بے عزتی کوی نو غصه کیږی دَ غیرت دَ وجے نه لیکن بیا بدله نه اخلی بلکه بخشش کوی- او په دے کښ اشاره ده چه تکبر په کښ نیشته ځکه چه صرف په غضب کیدلو سره خلق رانیول بغیر دَ معافی کولو نه دا تکبر دے-
س۳۸ :- په دے کښ پنځم ، شپږم ، اووم او اتم صفت ذکر کوی - اسْتَجَابُوْا لِرَبِّهِمْ په دے کښ پس دَ ایمان نه پوره انقیاد مراد دے - وَاَمْرُهُمْ شُوْرٰی بَيْنَهُمْ په دے کښ اشاره ده اتفاق او اتحاد ته چه سبب دَ هغے

وَالَّذِيْنَ اِذَآ اَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُوْنَ ﴿۳۹﴾

او هغه کسان چه کله اورسیږی هغوی ته زیاتے د چانه نو دوی بدله اخلی۔

وَجَزٰٓؤُا سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِّثْلُهَا ۚ فَمَنْ

او بدله د بدیٔ بدی ده پشان د هغے نو چا چه

عَفَا وَاَصْلَحَ فَاَجْرُهٗ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

معافی اوکړه او ښهٔ عمل ئے اوکړو نو ثواب د دهٔ دے په الله تعالیٰ باندے یقیناً الله تعالیٰ نه خوښوی

الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۰﴾ وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ

ظالمان۔ او خامخا چا چه بدله واغستله روستو د ظلم کیدلو نه په دهٔ باندے

مشوره کول دی ډیر یل سره۔ او مشوره ډیاره د احکامو جوړولو نه ده بلکه ډیاره د چلولو د احکامو ده او دے ته اسلامی شوری ویلے کیږی او هرچه مغربی شوریٰ او جمهوریت دے نو هغه د احکامو جوړولو ډیاره وی او هغه شرک دے او په دے سورت کښ دا صفت ئے د دے وجے نه ذکر کړو چه دعویٰ د دے سورت توحید په الحکم وۀ نو د هغے د جاری کولو ډیاره شوریٰ پکار ده بیا هرکله چه تیر شوی صفتونه مشورے ته محتاج نه دی بلکه روستو اعمالو کښ مشورے ته حاجت دے نو د دے وجے نه دا صفت ئے په مینځ کښ ذکر کړو۔ او امر د شوریٰ سورة آل عمران ۱۵۹ کښ ذکر دے۔
۳۹:۔ په دے کښ نهم صفت ذکر دے (سوال) د څلورم صفت او د دے صفت په مینځ کښ منافات دے (جواب) اول جواب دا دے چه جنایت کوؤنکی دوه قسمه دی اول هغه دے چه په خپل جنایت کولو باندے نادم (پښیمانه) وی نو هغه ته معافی کول پکار دی او دویم هغه دے چه په جنایت باندے کلک دے او ظلم نه پریږدی نو د هغه نه انتقام اغستل دی۔ دویم جواب دا دے چه اول په باره د غضب کولو په وخت د دعوت کښ دے یعنی په وخت د دعوت او تبلیغ کښ چه څوک زیاتے اوکړی او کنځل اوکړی او داعی غصه شی لیکن مغفرت کوی او دویم په باره د دنیوی امورو کښ دے۔ او دریم جواب دا دے چه په دے جملو کښ صیغه د امر نیشته بلکه اول ئے عزیمت ذکر کړے دے چه هغه ډیر غوره دے او دویم ئے رخصت ذکر کړے چه په دے باندے هم عمل کول جائز دی لیکن شرط ورسره دے۔
۴۰:۔ په دے کښ طریقه د انتصار او شرط د بدل اغستلو ذکر کوی چه برابر والے دے او بیا ئے ترغیب د ... ذکر کړے دے اعلیٰ وصف ته (یاتے په بل مخ)

فَأُولَٰئِكَ مَا عَلَيْهِم مِّن سَبِيلٍ ﴿٤١﴾ إِنَّمَا

نو دغه کسان نیشته په دوی باندے هیځ ملامتیا - یقینًا

السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَظْلِمُونَ النَّاسَ

ملامتیا په هغه کسانو باندے ده چه ظلم کوی په خلقو باندے

وَيَبْغُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ أُولَٰئِكَ

او سرکشی کوی په ملک کښ په نا حقه سره دغه کسان

لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤٢﴾ وَلَمَن صَبَرَ

دوی لره عذاب درد ناک دے - او خامخا چا چه صبر اوکړو

وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ ﴿٤٣﴾

او بخښنه ئے اوکړه یقینًا دا دَ فرض کړے شوے کارونو نه دی -

چه عفو کول دی - او بدے دَ بدے ته ئے بدی اویله اگرچه هغه بدی نه ده
دَ وجے دَ مشاکلت نه یعنی اگرچه دا بدله اغستل دَ بدے جائز دی دَ وجے دَ رخصت
نه لیکن په اصل کښ خو بدی ده. وَأَصْلَحَ په دے کښ اشاره ده چه دَ معلے
کولو نه بعد افساد او نه کړی یعنی عفو په طریقه دَ منافقت سره نه وی بلکه
دَ یاره دَ اصلاح کولو وی -
سلا ۴۲: په دے کښ دفع دَ وهم ده چه هر کله یو مظلوم بدله دَ ظالم
نه واخلی نو بعض ناپوهه خلق په دے مظلوم باندے ملامتیا وائی نو په دے
ایت کښ په هغوی باندے رد دے - او دا بدله اغستل عام دی که په بدن
کښ وی یا مال کښ یا په عزت کښ. او په دویم ایت کښ حقدار دَ ملامتیا
ئے ذکر کړل او هغه دوه قسمه دی اول هغه دی چه په خلقو باندے
ظلمونه کوی یعنی حقوق العباد بربادَ وی او دویم هغه دی چه حقوق
الله بربادَ وی -
سلا ۴۳: دا عطف دے په وَلَمَنِ انْتَصَرَ باندے یعنی بدله نه اخلی دَ وجے
دَ صبر نه او بخښش ورته اوکړی یعنی خفګان هم زائله کړی - عَزْمِ الْأُمُورِ
هغه کارونه چه په شرع کښ په طریقه دَ عزیمت سره مطلوب دی اگرچه
مقابل کښ رخصت باندے عمل جائز دے -

وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ وَّلِيٍّ مِّنْ

او هغه څوک چه الله تعالی یې بې لارې کړي نو نیشته هغه لره هیڅوک بچ کوونکے

بَعْدِهٖ ؕ وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ لَمَّا رَاَوُا الْعَذَابَ

روستو د بې لارې کولو نه او وینې به ته ظالمانو لره هر کله چه اُوینی دوی عذاب لره

يَقُوْلُوْنَ هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿۴۴﴾

وائي به دوی ایا شته دے واپسئ ته څه لار

وَتَرٰىهُمْ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا خٰشِعِيْنَ

او وینې به ته دوی لره چه پیش کولے به شي په اُور باندے سر کوځي به وی

مِنَ الذُّلِّ يَنْظُرُوْنَ مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ ؕ

د وجے د ذلت نه کوری به په سترګو کمزورو سره

وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّ الْخٰسِرِيْنَ

او وائي به مؤمنان یقیناً پوره تاوانیان

الَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَاَهْلِيْهِمْ

هغه کسان دی چه تاوان کړے یې اچولے دی ځانونه او بال بچ خپل

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اَلَآ اِنَّ الظّٰلِمِيْنَ فِيْ عَذَابٍ

په ورځ د قیامت کښې خبر شئ یقیناً ظالمان به په عذاب

سک ۴۴:- په دے کښې تخویف اخروی دے هغه چالره چه د مخکښې صفتونو نه محروم وی - وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ یعنی سره د صبر او د مغفرت کول د مظلوم نه بیا هم دغه ظالم خپل ضد او عناد ته پریږدی - وَتَرَى الظّٰلِمِيْنَ دویم مفعول د تَرَى پټ دے یعنی او به وینې ته بدحال د ظالمانو او يَقُوْلُوْنَ بیان د بدحال د دوی دے هَلْ اِلٰى مَرَدٍّ مِّنْ سَبِيْلٍ جواب پټ دے چه نیشته او داسے په سورۃ غافر سلا او سورۃ انعام سک او سجدہ سلا او سورۃ فاطر سک کښې هم ذکر شویدی -

مُّقِيْمٍ ﴿٤٥﴾ وَمَا كَانَ لَهُمْ مِّنْ أَوْلِيَاءَ

همیشه کښې وی۔ او نه به وی دوی لره هیڅوک مددګاران

يَنْصُرُوْنَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۗ وَمَنْ يُّضْلِلِ

چه مدد اوکړی د دوی سره سوا د الله تعالیٰ نه او هغه څوک چه بے لارے کړی هغه لره

اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ ﴿٤٦﴾ اِسْتَجِيْبُوْا لِرَبِّكُمْ

الله تعالیٰ نو نیشته دے لره هیڅ لار د هدایت۔ قبول کړئ حکم نه د الله تعالیٰ

۴۵:۔ دا هم تخویف اخروی دے په شپږ طریقو سره مِنَ الذُّلِّ متعلق دے په خاشعین پورے یعنی دا خشوع د وجے د عبادت نه نه ده بلکه د ذلت د وجے نه ده یا متعلق دے په ینظرون پورے مِنْ طَرْفٍ خَفِيٍّ مِنْ د ابتداء د پاره دے یا په معنیٰ د باء دے ضعیف نظر دا دے چه سترګے په شی اوچته وی د شرم د وجے نه (سوال) بل ایت سره ثابت دی چه د دوی حشر به په حال د روند والی کښې کیږی؟ (جواب) اول دا دے چه دا مختلف وختونه دی بعض وخت کښې به ړانده او بعض وخت کښې به ئے نظر تیز وی فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيْدٌ او بعض وخت به کمزورے نظر وی۔ دویم جواب دا دے چه دلته طرف خفی نه مراد په زړه سره نظر کول دی نه په سترګو باندے وَقَالَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا دا وینا د پاره د ملامته کولو د کافرانو ده نو دا هم یو قسم عذاب دے وَاَهْلِيْهِمْ خسران د اهل دا دے چه هغوی ئے په ځان پسے تابع کړۀ په شرک او کفر کښې او يَوْمَ الْقِيَامَةِ ئے د دے وجے نه اُویل چه خسران به په دغه ورځ باندے ښکاره شو اګرچه هغه په دنیا کښې وؤ یا اَهْلِيْهِمْ په معنیٰ د فی اهلیهم دے او مراد دا دے چه اهل د دوی نه جدا شول دوی نه هیڅ نفع نشی ورکولے یا خو هغوی جنت ته لاړل په سبب د ښیل عمل سره یا په اُورکښې دی په نور طبقاتو کښې د دوی د حال نه خبر نه دی۔

۴۶:۔ دا هم تخویف اخروی کښې داخل دے او رد دے په شرک فی الولایة باندے فَمَا لَهٗ مِنْ سَبِيْلٍ لار د حق په دنیا کښې او لار د جنت په اٰخرت کښې او یا جواب دے د هغه قول هل الی مرد من سبیل بهرحال د سبیل نه خاص سبیل مراد دے د کر د عام مراد تر بیه خاص۔

مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ ؕ

مخکښې د دې نه چه راشي يو ورځ ته به وي واپسي د هغې د طرف د الله تعالیٰ نه

مَا لَكُمْ مِّنْ مَّلْجَاٍ يَّوْمَئِذٍ وَّمَا لَكُمْ مِّنْ نَّكِيْرٍ ﴿۴۷﴾

نه به وي تاسو لره ځائے د پناه په دغه ورځ کښې او نه به وي تاسو لره هيڅ انکار فائده مند۔

فَاِنْ اَعْرَضُوْا فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ؕ

نو که چرے دوی مخ واړه وو نو نه يئے ليږلے مونږ ته په دوی باندے حفاظت کوونکے

اِنْ عَلَيْكَ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ

نيشته په تا باندے مگر رسول دی او يقينًا مونږ کله چه اوڅکوو مونږ انسان ته

مِنَّا رَحْمَةً فَرِحَ بِهَا ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ ۢبِمَا

د خپل طرف نه رحمت لوئي کوی په هغې باندے او که چرے اورسيږی دوی ته مصيبت په وجه د هغه عملونو چه

قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ فَاِنَّ الْاِنْسَانَ كَفُوْرٌ ﴿۴۸﴾

مخکښې ليږلے دی لاسونو د دوی نو يقينًا انسان نا شکره دے۔

سکے :۔ په دے ايت کښې دعوت دے هغه خبر ته چه په هغې سره نجات حاصليږی د هغه عذابونو نه چه په مخکښې اياتونو کښې ذکر شو۔ اِسْتَجِيْبُوْا مراد د دے نه استجابت د دعوے د سورت دے او پوره انقياد د احکامو د الله تعالیٰ۔ لَا مَرَدَّ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ يعنی چه الله تعالیٰ يئے نه واپس کوی نو بل څوک يئے هيڅ چرے نشي واپس کولے، نَّكِيْرٍ انکار کول د گناهونو نه يعنی انکار خو به کوی ليکن هغه انکار ورته فائده نشي ورکولے ځکه چه په شهادتونو به ثابتيږی او د مجاهد په نيز مراد د نکير نه مدد گار دے يعنی دفع کوونکے د عذاب۔

سکے :۔ دا مقابل د استجيبوا دے او زجر دے اعراض کوونکو ته او تسلّی ده رسول الله صلّی الله عليه وسلّم ته۔ فَاِنْ اَعْرَضُوْا جزاء يئے پټه ده (يعنی نيشته په تا باندے هيڅ حساب) فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ دا علت د جزاء دے۔ وَاِنَّآ اِذَآ اَذَقْنَا الْاِنْسَانَ دا زجر دے او بيان د حالت د اعراض کولو دے يعنی په حال د نعمت کښې اعراض په طريقه د تکبر سره کوی او په حالت د مصيبت کښې اعراض په طريقه د کفران سره کوی۔

فائده :۔ د رحمت سره يئے اذقنا ذکر کړے دے او سيئة سره تصبهم، اشاره ده چه دے انسان ته لږ غوندے نعمت اورسی (پاتے په بل مخ)

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَخْلُقُ

خاص الله تعالیٰ لره بادشاهي د اسمانونو او د زمکې ده پیدا کوي

مَا يَشَاۗءُ ۭ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ

هغه څه چه اوغواړي بخښش درکوي چاته چه اوغواړي لونړه او بخښش درکوي

لِمَنْ يَّشَاۗءُ الذُّكُوْرَ ﴿٤٩﴾ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ

چاته چه اوغواړي خامن یا دوه قسمونه ورکوي

ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَاۗءُ

بعضوته خامن او لونړه او جوړوي چا لره چه اوغواړي

عَقِيْمًا ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ﴿٥٠﴾ وَمَا كَانَ

شنډ یقیناً الله تعالیٰ پوهه دے قدرت والا دے - او نشي کیدلے

نو تکبر کوي یا دا چه دَ دنیا نعمتونه په مقابله دَ جنت کښ لږ دي دَ دے وجے نه یې په ذوق سره تعبیر اوکړو او په سیئه کښ په لږ باندے غلے وي لیکن چه مصیبت ډیر شي نو کفران نسکاره کړي او اصابت په ډیر والي باندے دلالت کوي۔

پله فایده: دَ اولے جملے په سر کښ یې اذا او دَ دویمے په سر کښ ان راوړو اشاره ده چه نعمتونه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه اصل څیز دے او مصیبتونه عارضي څیز دے۔

پله فایده: په حال دَ نعمت کښ یې مفرد ذکر کړو او په حال دَ مصیبت کښ جمع ضمیر اګر چه انسان اسم جنس دے خو په دے کښ اشاره ده چه په حال دَ تکبر کښ انسان ځان لره دَ نورو خلقو نه مستغني بے پرواه اوګڼړي او په حال دَ مصیبت کښ نورو خلقو سره یو ځائے کیږي او هغوي نه فریادونه کوي او دَ الله تعالیٰ ناشکري کوي۔

سوال: دا دلیل عقلي دے په توحید فے الولایة باندے کلي بادشاهي او پیدائیښ او تقسیم دَ اولاد دا ټول الله تعالیٰ لره خاص دي ایت یې په اثبات دَ مُلک سره شورو کړو اشاره ده چه دا روستو نظام دَ بادشاهۍ نظام دے بیا يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ او يَهَبُ دواړه یې ذکر کړه اشاره ده چه پیدا کول

لِبَشَرٍ اَنْ يُّكَلِّمَهُ اللّٰهُ اِلَّا وَحْيًا اَوْ مِنْ وَّرَآءِ

بنیځ بشر لره چه خبرے اوکړی هغه سره الله تعالیٰ مګر په وحی سره زړهٔ د هغه ته یا روسته

حِجَابٍ اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا فَيُوْحِيَ بِاِذْنِهٖ

د پردے نه یا او لیږی ملک نو وحی کوی په حکم د الله تعالیٰ سره

دوه قسمه دی اول دا چه د عدم نه وجود ته راولی بغیر د څه مادے نه دویم دا چه د یو څیز نه بل څیز پیدا کړی. بیا ئے د انسانانو د اولاد په لحاظ سره درے قسمونه ذکر کړل او اخری ئے بے اولاده ذکر کړو بیا د دے تقسیم علت ئے ذکر کړو علیم قدیر دا ډیر افصح ابلغ بهترین ترتیب دے۔ (فوائد)

اوله فایده: دا چه اناثا ئے مخکښې ذکر کړو اشاره ده کثرت د زنانو ته چه د قیامت د علاماتو نه ده او قرطبی د واثلة نه نقل کړے دی چه برکت د زنانه دا دے چه اول ترینه لور پیدا شی بیا ورپسے ځوئے۔

دویمه فایده اناثا نکره او الذکور ئے معرفه راوړے ده اشاره ده چه زنانه په حالت د ناآشنائی پکار ده یعنی پرده نشینه چه نه پیژندے کیږی او نارینه خو ښکاره وی پیژندے کیږی۔

دریمه فایده، یزوجهم لفظ عام دے چه په یوکرت نارینه او زنانه دواړه ورکړی چه هغوی ته توامین ویلے کیږی یا په جدا جدا وخت کښې ورکړی بیا اصل په تزویج کښې نارینه دے د دے وج نه د ذکرانا ئے مخکښې کړو په اناثا باندے۔

څلورمه فایده، مفسرینو دا تقسیم په انبیاء علیهم السلام کښې ذکر کړے دے لوط علیه السلام د اول قسم مصداق ابراهیم علیه السلام د دویم قسم اخری نبی صلی الله علیه وسلم د دریم قسم او یحیٰی وعیسیٰ علیهما السلام د څلورم قسم. لیکن دا په طریقه د تخصیص سره نه دے بلکه په طریقه د مثال سره دے او اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام هم په خپل اولاد کښې اختیار نه لری بلکه الله تعالیٰ ته محتاج دی نو اولیاء بزرګان به څه رنګه چاته اولاد ورکړی لکه چه مشرکان خلق اولاد د بزرګانو او د هغوی د قبرونو نه غواړی نو دا صریح شرک دے۔

پنځمه فایده، دا قسمونه په اعتبار د غالب او اکثر سره دی نو په دے سره انکار د خنثیٰ نه نه شی کیدے ځکه چه لفظ د یخلق ما یشاء او قدیر خنثیٰ پیدا کولو ته شامل دے۔

مَا يَشَآءُ ۭ اِنَّهٗ عَلِيٌّ حَكِيْمٌ ﴿۵۱﴾ وَكَذٰلِكَ

څه چه اوغواړی یقینًا هغه پورته دے حکمتونو والا دے - او دغه شان

اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا ۭ مَا كُنْتَ

وحی کړیده مونږ تاته د روح (قرآن) د دے د حکم زمونږ نه ته وے نه

تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ وَلَا الْاِيْمَانُ وَلٰكِنْ

چه پوهیدلے چه څه دے کتاب او نه په تفصیل د ایمان کښ لیکن

ساھ ،۔ مخکښ ایت کښ تقسیم دَ نعمت ظاهریه وو اوس په دے ایت کښ تقسیم دَ نعمت باطنیه دے چه وحی ده او په دے ایت کښ اثبات دَ معجزے دَ انبیاء علیهم السّلام دے دَ مرتبے دَ الوهیت نه۔ کلام دَ الله تعالیٰ دَ بشر سره، دَ دے درے طریقے دی په طریقه دَ حصر سره اول طریقه وحی ده لته خاص معنیٰ مراد ده یعنی په زړه دَ نبی کښ واچوی بغیر دَ واسطے دَ ملک نه که په بیدارئ کښ وی او که په خوب کښ وی لکه په حدیث صحیح کښ وارد دی "القی الله فے روعی ان نفسا لن تموت حتی تستکمل رزقها (الله تعالیٰ زما په زړه کښ واچوله چه هیڅ نفس به نه مریږی تر دے پورے چه خپله روزی پوره کړی)" او هم دا سے خوب دَ ابراهیم علیه السّلام په ذبح دَ ولد سره۔ دویمه طریقه اَوْ مِنْ وَّرَآءِ حِجَابٍ یعنی خبرے حقیقتًا دے بغیر کلیدلو دَ الله نه لکه په معراج کښ. دریمه طریقه اَوْ يُرْسِلَ رَسُوْلًا دا عطف دے په معنیٰ دَ وَحْيًا باندے هغه په تاویل دَ ان یوحی الیه وان یرسل رسولا مراد دَ رسول نه جبرئیل علیه السّلام دے او دا روستنے طریقه بیا په دوه قسمه ده لکه په دویم حدیث دَ بخاری کښ ذکر شویدی. یو دا چه دَ جبرئیل آواز پیشان دَ صلصله الجرس وی او دا په پیغمبر صلّی الله علیه وسلّم باندے ډیر ګران وو لیکن هغه به ترینه ضروری وحی یاده کړه۔ دویمه طریقه چه جبرئیل به متشکل شو په شکل دَ یو سړی باندے او نبی صلّی الله علیه وسلّم سره به ئے تیکاره خبرے کولے او دا آسانه طریقه وه۔

فائدہ:۔ دَ دے ایت نه دلیل نیولے شوے چه انبیاء علیهم السّلام په دنیا کښ دَ الله تعالیٰ ملاقات نشی کولے صرف کلام الله اوریدل دی نو دا یو دلیل دے چه کلام صفت دَ الله تعالیٰ دے۔

جَعَلْنٰهُ نُوْرًا نَّهْدِيْ بِهٖ مَنْ نَّشَآءُ مِنْ

او ګرځولی مونږ دا قرآن رڼا چه هدایت کوو مونږ په دے سره هغه چا ته چه او غواړو مونږ دَ

عِبَادِنَا ۭ وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۵۲﴾

بندګانو خپلو نه او یقینًا ته خامخا هدایت کوے لاره لیغ ته

۵۲ :- دا ترغیب دے قرآن کریم ته او صداقت دَ قرآن دے متعلق دے دَ ابتداء دَ سورت سره او اشاره ده چه قرآن کریم په هغه طریقو سره نازل شویدے کوم چه په مخکښ ایت کښ ذکر شویدی. رُوْحًا مراد ترینه قرآن دے ځکه قرآن دَ حیات روحانیه دے لکه چه روح حیوانی سبب دَ حیات بدنیه دے او دَ دے وجے نه قرآن ته ربیع القلوب هم وائی (سپرلے دَ زړونو) مَا كُنْتَ تَدْرِيْ مَا الْكِتٰبُ مراد ترینه قرآن کریم دے یعنی مخکښ دَ نزول دَ قرآن نه نبی صلی الله علیه وسلم دَ قرآن نه ناخبره وو لکه په سورة یوسف ۳ او سورة یونس ۱۶ کښ یا مراد دَ کتاب نه جنس نازل کتابونه دی یعنی تورات، انجیل، زبور یا مراد دَ کتاب نه لیکل دی.

وَلَا الْاِيْمَانُ مراد دے نه ایمان تفصیلی دے یعنی تفصیلات او شرائع دَ ایمان مخکښ دَ نبوت نه نبی صلی الله علیه وسلم ته معلوم نه وو یا مراد ترینه طریقه دَ دعوت ده ایمان ته یا مراد ترینه اهلِ ایمان دی. او دا توجیهات دَ دے وجے نه لازم دی چه ایمان اجمالی په تمام انبیاء علیهم السّلام کښ قبل النبوت موجود وی قاضی عیاض په شفاء کښ ویلی دی چه انبیاء علیهم السلام معصوم دی قبل النبوت دَ جهل یا لله او صفات الله او دَ شک کولو نه په هغے کښ.

او خطیب شربینی ویلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم مخکښ دَ نبوت نه اقرار کوونکے وو په وحدانیت دَ الله تعالیٰ او دَ هغه په عظمت باندے موځ او حج او عمره یې کوله او لات ومنات به یې بد ګنړل او منا یوحد دَ نوم دَ غیر الله یې نه خوړله او دا رنګ لیکلی دی چه صفات الهیه دوه قسمونه دی یو قسم هغه دے چه په عقل سره معلومیږی او دویم هغه چه په صرف نقلی دلیلونو سره معلومیږی نو قبل دَ نبوت نه نبی په اوّل قسم باندے عقیده لری. او کوم روایت چه دلالت کوی چه انبیاء علیهم السّلام او زمونږ اخری نبی قبل دَ نبوت نه شرک کوو نو هغه موضوعی احادیث او روایات دی.

فائده :- دَ دے ایت نه معلومه شوه چه ایمان تفصیلی (پاتے په بل مخ)

صِرَاطِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا

لار د الله تعالٰی هغه ذات چه خاص هغه لره هغه څیزونه دی چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه

فِی الْاَرْضِ ؕ اَلَآ اِلَی اللّٰهِ تَصِیْرُ الْاُمُوْرُ ﴿۵۳﴾

په زمکه کښ دی خبر شئ خاص الله تعالٰی ته ورګرځی ټول کارونه -

بغیر د قرآن نه نه حاصلیږی نو هغه خبره چه ویلے کیږی چه ایمان د قرآن نه مخکښ دے نو مراد د هغې نه اجمالی ایمان دے۔ وَاِنَّكَ لَتَهْدِیْٓ په دے کښ اثبات د رسالت د رسول دے او هدایت نه مراد دعوت وارشاد دے۔ ۵۳۔ دا ذکر د عظمت شان د صراط مستقیم دے الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ دا اشاره ده مقصد د صراط ته چه توحید دے او متعلق دے د ابتداء د سورت سره او رد د شرک فی الولایت دے اَلَآ اِلَی اللّٰهِ تَصِیْرُ الْاُمُوْرُ په دے سره دفع د وهم کوی که څوک وهم کوی چه په بعض څیزونو کښ خو د بندګانو ملکیت هم شته نو څه رنګ اویلے شو لهٗ ما فی السموات وما فی الارض؟ حاصل جواب دا دے چه په حقیقت او په عاقبت کښ د دے ټولو ملکیت الله تعالٰی ته ورګرځی -

الحمد لله چه تفسیر د سورة شورٰی ختم شو۔

سورة الزخرف ۴۳ مكية ۶۳	بسم الله الرحمن الرحيم	اٰياتها ۸۹ رکوعاتها ۷

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّا جَعَلْنٰهُ

متشابہ پہ معنٰی دَ دیې مراد یاتلے۔ قسم دے په کتاب واضح بیان کوونکی یاندے (گواهی کوی) چه یقیناً رالیږلے دے مونږه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة زخرف

ربط دَ دے سورت دَ شوری سره په ډیرو وجوه سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورة کښ امر وو په تحکیم دَ قرآن کریم چه هغه حجت دَ موحدینو دے نو په دے سورت کښ تردید دے په حجتونو دَ مشرکانو باندے۔ دویمه وجه دا ده چه مخکښ ردوو په بعض شبهاتو دَ مشرکینو باندے نو په دے سورت کښ رد دے په مشهوره شبهه دَ هغوی باندے چه هغه عقیده دَ شفاعت شرکیه تهریه ده۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ زجرونه وو په مشرکانو باندے نو په دے سورت کښ رد او زجرونه په اقسامو دَ شرک باندے دی څلورمه وجه دا ده چه په سورة شوری کښ صداقت دَ قرآن او دعوت وو فیصلے دَ قرآن ته نو په دے سورت کښ زجر دے په اعراض دَ قرآن کریم باندے۔

دعوی دَ دے سورت رد کول دی په حجتونو دَ مشرکانو باندے یو حجت دَ هغوی مشیت دَ الله تعالٰی دے په شرک باندے او دویم حجت عقیدة دَ شفاعت شرکیه او دریم حجت اتباع دَ آباؤ ده په ۲۰ سے ۸۶ سے ۲۲ کښ او دَ دے سره رد دے په اقسامو دَ شرک باندے شرک فی العبادة وفی الدعا وفی التصرف او په عقیدة دَ اتخاذ الولد باندے په درے دلیلونو نقلیو او اته دلیلونو عقلیو سره۔

خلاصه دَ سورت دا ده چه دا تقسیم دے درے بابونو ته اول باب تر ۳۶ پورے دے په دے کښ ذکر دَ صداقت دَ قرآن دے په ته طریقو سره۔ بیا زجر او تخویف دنیوی دے۔ بیا څلور عقلی دلیلونه دی بیا زجر دے په مشرکین بالملائکه باندے او دَ هغوی په دوه دلیلونو باندے او دلیل نقلی دے دَ ابراهیم علیه السلام ته بیا دوه زجرونه دی او تزهید فی الدنیا ذکر کوی۔

تفسیر

سے ۲ په دے کښ قسم ذکر کوی په قرآن باندے ر یاتے په بل مخ)

قُرْءٰنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ③ وَاِنَّهٗ

او یقیناً دے	چه دَ عقل نه کار واخلئ	دَ دے دَپاره	دَ عربۍ ژبې	دا قرآن

دَپاره دَ قائلے دَ شهادت پیش کولو او تفصیل دَ دے په ابتدا دَ سورة یٰسٓ کښ تیر شویدے. المُبِیْنِ دا متعدی دے یعنی "ښکاره کوونکے لار دَ توحید او دَ حق لره دَ لارے دَ مشرکانو ته" نو په دے کښ اشاره ده چه دے سورت کښ وضاحت دے په دفع کولو دَ شبهاتو سره او په دلیلونو نقلیو سره یا لفظ مبین لازمی دے یعنی واضح ادمقا مضمون والا دے.

۳ :- دا جواب قسم دے حاصل دا دے چه دَ قرآن وضاحت چه اعلیٰ مرتبه کښ دے شاهد دے چه دا دَ الله تعالیٰ کتاب دے دَ بنده کتاب نه دے او دا رنګ دَ هر عقل والا دَ پوهیدلو کتاب دے (سوال) دَ جعلنا ظاهری معنیٰ خو پیدا کول دی نو دَ دے نه معلومه شوه چه قرآن کریم مخلوق دے او حال دا چه قرآن غیر مخلوق صفت دَ الله تعالیٰ دے او دا حق مذهب دے؟ (جواب) اول دا دے چه دلته مقصد توصیف دَ قرآن دے په عربیت سره دَپاره دَ ترغیب مخاطبینو عربو ته او جعل په معنیٰ دَ تصییر دے یعنی قرآن په لغت عربیه کښ رالیږلے دے او مشرکینو دَ قرآن په خلق او عدم خلق کښ بحث نه دے کړے نو په هغے کښ یو جانب ثابتولو ته ضرورت نه وو او هغه په نورو دلیلونو سره ثابت شوے دے چه مخلوق نه دے. دویم جواب: قرطبی ویلی دی چه جعلنا په معنیٰ دَ سمّیناه (نوم مو ایښے دے) او وصفناه (صفت مو ورکړے دے) او انزلناه او بیّناه (نازل کړیدے او بیان کړے دے مونږ) او په معنیٰ دَ انزلناه خوره دے ځکه چه قرآن کښ په دے لفظ سره ډیر ذکر دے لکه سورة یوسف ۲ او ابن کثیر هم دا معنیٰ غوره کړے ده. دریم جواب جعل په معنیٰ دَ تقدیر او دَ کتابت سره دے یعنی لیکلے دے مونږ په تقدیر کښ قرآن عربی او هغه تقدیر لوح محفوظ دے او دَ دے تائید په روح المعانی کښ دَ طاؤس نه نقل کړے دے چه یو سړے دَ حضر موت مقام نه راغے او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه ئے تپوس اوکړو چه ماله خبر راکړه چه قرآن کلام الله دے او که خلق دے دَ مخلوق دَ الله تعالیٰ نه هغه جواب ورکړو چه کلام الله دَ کوم آیت نه ئے اولوستلو حتیٰ یسمع کلام الله (توبه) نو بیا هغه سړی دا آیت ذکر کړو انا جعلناه قرانًا عربیًّا نو ابن عباس رضی الله عنهما ورته اُوئیل چه دَ دے مطلب دا دے چه الله تعالیٰ لیکلے دے په لوح محفوظ کښ په عربی سره او آیت ئے اولوستلو بل هو قرآن مجید فی لوح محفوظ (بروج). او هغه جواب

فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيْمٌ ④

په اصل د کتابونو کښ دے زمونږ سره دے خامخا اوچت دے حکمتونو والا۔

اَفَنَضْرِبُ عَنْكُمُ الذِّكْرَ صَفْحًا اَنْ كُنْتُمْ

آیا نو واړوو مونږ ستاسو نه نصیحت په اړولو سره د دے وجے نه چه تاسو یئ

قَوْمًا مُّسْرِفِيْنَ ⑤ وَكَمْ اَرْسَلْنَا مِنْ نَّبِيٍّ

قوم مشرکان - او ډیر لیږلی دی مونږ پیغمبران

چه امام رازی او شربینی وغیرهما ذکر کړے دے چه مراد د دے نه کلام لفظی دے او هغه مخلوق دے دا قول غلط دے ځکه چه تقسیم د کلام لفظی او نفسی ته بدعت دے او قرآن کریم ښکاره دلیلونه دی چه مسموع مقروء متلو کلام الله دے او دا مذهب د امام ابوحنیفه رحمة الله ذکر کړے دے فقه اکبر کښ او شرح عقیدة الطحاویه په ص۱۸۸ کښ په تفصیل سره او امام ذهبی په کتاب العلو للعلی الغفار کښ د امام ابویوسف مناظرة د امام ابوحنیفه رحمهما الله تعالیٰ سره ذکر کړے ده چه امام صاحب رجوع اوکړه قول د امام ابویوسف ته او ویل ئے چه څوک وائی چه قرآن مخلوق دے نو هغه کافر دے۔ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه قرآن کریم کښ احکامو او معانی او مقاصدو او حکمتونو حاصلولو د پاره تعقل تدبر کول ضروری دی ځکه چه دا ئے مقصد د انزال کړځولے دے۔

س۴:۔ دا هم د قرآن صفات دی د پاره د تصدیق او ترغیب ورکولو وَاِنَّهٗ فِيْٓ اُمِّ الْكِتٰبِ دا رنګ سورة بروج س۲۲ او سورة واقعه س۷۸ کښ دی او دا دلیل دے چه دا قرآن په دے خاص ترتیب سره په لوح محفوظ کښ په اصل ترتیب سره دے هاں په نازلولو کښ ترتیب په سبب د واقعاتو سره په بل طریقه سره دے۔ حَكِيْمٌ خاوند د حکمتونو دے یا محکم دے۔

س۵:۔ دا زجر دے په اعراض سره د قرآن نه په طریقه د استفهام انکاری سره یعنی که چرے مشرکان وائی چه مونږ خو توجه نه متوجه نو مونږ ته دا قرآن ولے بیانوئے او مونږ وریانوے تنګوئے نو د هغوی جواب دا دے چه ستاسو د شرک او د انکار د وجے نه قرآن نازلول او قرآن بیانول نه پریږدو۔ صَفْحًا دا مفعول مطلق دے بغیر د لفظ د فعل نه لیکن معنیٰ یو دی۔ اَنْ كُنْتُمْ په تقدیر د لام سره دے په بل مخ (

فِي الْاَوَّلِيْنَ ⑥ وَمَا يَاْتِيْهِمْ مِّنْ نَّبِيٍّ

په مخکنو خلقو کښې ۔ او نه راتلو هغوی ته هیڅ پیغمبر

اِلَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑦ فَاَهْلَكْنَآ

مګر دوی به په هغه پورې ټوقې کولې ۔ نو هلاک کړل مونږ

اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا وَّمَضٰى مَثَلُ الْاَوَّلِيْنَ ⑧

ډیر سخت د دوی نه په نیولو کښې او تیرې شویدی نمونې د زړو خلقو ۔

وَلَئِنْ سَاَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ

او که چرې ته تپوس اوکړې د دوی نه چا پیدا کړیدی آسمانونه

وَالْاَرْضَ لَيَقُوْلُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيْزُ

او زمکه خامخا دوی به وائي پیدا کړیدی دا زور آور

الْعَلِيْمُ ⑨ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ

ډیر علم والا هغه ذات دے چه جوړه کړې ده تاسو لره زمکه

د لام سره علت دے د افنضرب د پاره یا علت دے انکار د پاره یعنی لانضرب عنکم مونږ قرآن ځکه ستاسو نه اړوو چه تاسو مشرکان ورته محتاج یئ ۔

۶ ، ۷ ، ۸ په دے آیاتونو کښې تسلی ده رسول الله صلی علیه وسلم ته او تخویف دنیوی دے منکرینو ته روستو د زجر ورکولو نه ۔ کَمْ خبریه دے په معنیٰ د ډیر والی دے ۔ په اول آیت کښې ارسال د رسولانو ذکر دے او په دویم آیت کښې استهزا د منکرینو ذکر ده چه سبب د عذاب دے او په دریم آیت کښې مسبّب ذکر دے چه عذاب دے مِنْهُمْ ضمیر هغه مشرکینو ته راجع دے چه هغوی مخاطب وو په تیر شوی آیت کښې ۔ اَشَدَّ مِنْهُمْ بَطْشًا طاقت په سبب د ډیر مالونو او غټو بدنونو او د ګټرو لښکرو د هغوی ۔ مَثَلُ صفت او حالاتو او خبر ته ویلے کیږی ۔

۹ ۔ دا دلیل عقلی اعترافی دے په مسئله د توحید باندے او دا اقرار د دوی په سورة عنکبوت ۶۱ لقمان ۲۵ کښې ذکر دے ۔ او په دے آیت کښې په جواب کښې لفظ د خَلَقَهُنَّ د تاکید د اقرار د پاره ذکر کړے دے ۔

مَهْدًا وَّجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ

بستره د آرام او جوړې کړيدی تاسو لره په هغې کښې لارې د دې د پاره چه تاسو

تَهْتَدُونَ ﴿١٠﴾ وَالَّذِي نَزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ

هدایت او مومئ. او هغه ذات دے چه رالیږلی دی د آسمان د طرف نه

مَاءً بِقَدَرٍ فَأَنشَرْنَا بِهِ بَلْدَةً مَّيْتًا

اوبه په اندازه نو تازه کړيده موږ په هغې سره زمکه د چه

كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ ﴿١١﴾ وَالَّذِي خَلَقَ

دغه شان په تاسو راو یستلے کیږئ. او هغه ذات دے چه پیدا کړیدی

الْأَزْوَاجَ كُلَّهَا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْفُلْكِ

جوړې ټولے او جوړې کړیدی ستاسو د پاره د کشتو

سلا :- دا دویم دلیل دے په دے کښ اقرار نیشته ځکه چه لکم پئ ویلے دے لنا ئ نه دے ویلے نو دا د تیرشوی سره په طریقه د تنویر (دیر وضاحت) سره ذکر کړے دے یعنی هر کله چه خالق آسمانونو او زمکو لره مئ نو دا روستو قدرتونه د هغه په ضرورت اوپه دے آیت کښ دوه نمونے د قدرت الهیه ذکر کړے دی. مهد او مهاد زانګو او غیګه د مور د پاره د بچی ځلئ د آرام وی نو دا رنګ زمکه کښ د اوسیدلو د پاره بے شماره نعمتونه او اسباب د آرام شته دے. سُبُلًا لارے د سفر کولو یا اسباب د روزئ د ګټلو. لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ رسیدل مقصد ته مراد دی که مقصد د دنیاوی او که د دین وی.

سلا :- دا دریم دلیل دے په دے کښ هم دوه عظیم قدرتونه ذکر کړی یارانونه ورول او بوټی او فصلونه پیدا کول. بِقَدَرٍ په دے کښ اشاره ده چه کوم باران د قدر نه بهر شی نو هغه د عذاب باران وی لکه د قوم نوح علیه السّلام. بَلْدَةً مَّيْتًا بلده په معنیٰ د هغه مکان دے چه خلق پکښ جمع او دیره وی د ژوند تیرولو د پاره. او مکان مذکر دے نو میتاً ئ د دے وجے نه مذکر راوړو. كَذَٰلِكَ تُخْرَجُونَ اشاره ده چه څه رنګه دا دلیل د توحید د الله تعالیٰ دے نو دا رنګ دلیل د بعث بعد الموت هم دے او دا سے د دے چلے په ذکر کولو سره یاداشت د آخرت دے د پاره د دے چه په وخت د لیدلو د فصلونو او باغونو د دُنیا کښ د آخرت نه غفلت رانشی.

وَالۡاَنۡعَامِ مَا تَرۡكَبُوۡنَ ⑫ لِتَسۡتَوٗا عَلٰى

او خاروؤ نه هغه چه تاسو پرې سورلی کوئ د پاره د دے چه برابر شئ په

ظُهُوۡرِهٖ ثُمَّ تَذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ رَبِّكُمۡ

شاګانو د هغې باندے بيا په ياد كړئ نعمت د رب ستاسو

اِذَا اسۡتَوَيۡتُمۡ عَلَيۡهِ وَتَقُوۡلُوۡا سُبۡحٰنَ الَّذِىۡ

كله چه برابر كيږئ په هغې باندے او اويه وايئ پاكی ده هغه ذات لره

سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقۡرِنِيۡنَ ⑬

چه تابع كړے ئے دے موږ د پاره دا او نه وو موږ دے لره قابو كوونكی -

۱۲ :. دا څلورم دليل عقلی دے په دے كښ دوه انعامات عامه ذكر كړے دی.
الۡاَزۡوَاجَ كُلَّهَا دا لفظ شامل دے حيوانانو اونباتاتو او اوصافو او اطرافو اوزمانيانو اومكانانو ټولو ته مذكر مؤنث، خوګ تریخ، سپين تور، بره ښكته، ښی طرف ګس طرف، آسمان زمكه، ماضی او مستقبل، او رپے اوژمے، سپرلے او خزان، شپه او ورځ، رنړا او تياره، جنّت او دوزخ، خير او شر، فقر او غنا، ايمان او كفر وغيره -
زوج په اصل كښ هغه شے دے چه د بل سره په يو وجه سره مناسبت لری د پاره د تكميل نو د دے وجے نه الله تعالی د زوجيت نه منزّه دے او هم دا سے په سورة يٰسٓ ۳۶ او ذاريات ۴۹ كښ شته. مِنَ الۡفُلۡكِ وَالۡاَنۡعَامِ مِن بعضيه دے ځكه بعضے كشتئ او خاروی د سورلے د پاره لائق نه وی يا مِن بيانيه دے د مَا روستنی د پاره -
۱۳-۱۴ :. په دے كښ ادب د سورلے دے د پاره د دے چه انسان په هيڅ وخت كښ او خاص د سورلے په وخت (چه هغه اكثر د هلاكت وخت وی يا سبب د تكبر او د لوئی وی) الله تعالی لره هير نه كړی او د هغه توحيد او د هغه نعمتونه او قدرتونه هر وخت ياد اوساتی او حالت د مرګ لره هم ياد لری - او دا ادب په ژبه سره هم په حديث سره ثابت دے او په زړه كښ هم دا عقيده ساتل فرض دی. سنت طريقه دا ده چه په ركاب كښ خپه كيدی نو اول په بسم الله اووائی بيا په الله اكبر اووائی او چه سورلے باندے كيني نو الحمد لله په اووائی دينه اشاره ده په دے قول كښ ثُمَّ تَذۡكُرُوا نِعۡمَةَ رَبِّكُمۡ اِذَا اسۡتَوَيۡتُمۡ عَلَيۡهِ، او بيا به سبحان الذی الخ اووائی.
ضمير په ظُهُوۡرِهٖ كښ راجع دے مَا تركبون ته او هغه جنس دے او عَلَيۡهِ ضمير هم

وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴿۱۴﴾ وَجَعَلُوا لَهُ

او یقیناً مونږ خپل رب طرف ته خامخا په واپس ورگرځو - او گرځولی دوی الله تعالیٰ لره

مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا ۚ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ

د بندګانو د هغه نه ټکړے یقیناً دا انسان خامخا ناشکره

مُّبِينٌ ﴿۱۵﴾ أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَ

ښکاره دے - آیا نیولے دی الله تعالیٰ د هغه څانه چه پیدا کړیدی لونړه او

أَصْفَاكُم بِالْبَنِينَ ﴿۱۶﴾ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم

غوره یئ کړے تاسو په ځامنو سره - او کله چه زیرے ورکړشی یوکس د دوی ته

ما ترکیبون ته راجع دے یا ظهر ته راجع دے چه په ضمن د ظهور کښ دے۔
الَّذِي سَخَّرَ لَنَا په دے کښ عظمة د الله دے وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ په دے کښ
ذکر د عجز د انسان دے وَإِنَّا إِلَىٰ رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ په دے جمله کښ یاد داشت د مرګ
دے په طریقه د قیاس سره په حالت د سورلے باندے یعنی لکه چه اوس دا
انسان په سورلے باندے سور دے او یو طرف ته روان دے نو دا سے به یو وخت
د خلقو په اوګو باندے سور وی او د مقبرے په طرف به روان وی۔
س۱۵ :- دا متعلق دے د لَئِن سَأَلْتَهُم سره او زجر دے په شرک باندے یعنی چه دا
او منی چه الله تعالیٰ خالق او قادر دے نو بیا د هغه اولاد ته او شریک ته څه
حاجت دے چه مشرکان عقیده ساتی چه فلان بزرګ د الله تعالیٰ ولد دے
او ملائک د الله تعالیٰ بنات دی او فلانے ولی د الله تعالیٰ نازولے او د برخے
خاوند دے۔ جُزْءًا اولاد هم ټکړه ده او شریک هم یو قسم ټکړه وی د دے
وجے نه د قتاده نه نقل دے چه جزء هر معبود من دون الله ته شامل دے
او اکثر مفسرینو دلته بنات (لونړه) مراد کړے دی۔
س۱۶ :- دا رد په مشرکین بالملائکه باندے دے چه دوی عقیده لری چه دا ملائک
د الله تعالیٰ لونړه دی یعنی دا خبره په عقل او عرف کښ ډیره عجیبه ده چه الله تعالیٰ
قادر دے په اولاد ورکولو نو تاسو ته ځامن درکوی او الله تعالیٰ ځان له لونړه
نیسی او معلومه ده چه جنس د نارینه اشرف دے د جنس د زنانه نه۔ او هم
دغسے په سورة نجم س۲۱ س۲۲ کښ دی۔

بِمَا ضَرَبَ لِلرَّحْمٰنِ مَثَلًا ظَلَّ وَجْهُهٗ

په هغه څیز چه بیانوی | دَ رحمان دَپاره | په صفت کښ نو شی | مخ | دَ هغه

مُسْوَدًّا وَّهُوَ كَظِيْمٌ ⑰ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا

تک تور | او | دے | دَ غم نه ډک وی | ایا ردوی نسبت کوی الله تعالی ته) دَ هغه چا چه پالنه ئے کیږی شو

فِي الْحِلْيَةِ وَهُوَ فِي الْخِصَامِ غَيْرُ مُبِيْنٍ ⑱

په | کالو کښ | او حال دا چه هغه په حالت دَ جګړه کښ صفا خبره نشی کولے۔

۱۷:۔ په دے کښ رد او زجر دے په بله طریقه سره چه هغه مخلوق چه تاسو ئے طبعًا دَ ځان دَپاره ید ګڼړئے نو دَ هغے الله تعالیٰ ته نسبت کوئے نو دا څو بے عزتی دَ الله تعالیٰ ده په ډیره بے عزتی سره او دا سے سورة نحل ۵۸ کښ تیر شوی دی۔ مَثَلًا په معنیٰ دَ وصف دے یعنی لورکیدل یا په معنیٰ دَ مشابه دے ځکه چه ولد شبه دَ والد وی۔ ظَلَّ دا مستعملیږی دَ ورځے دَپاره یعنی تول ورځ دَ دهٔ مخ تور وی او دا تخصیص ئے په دے وجے سره او کړو چه دَ شپے څو تور رنګ نه ښکاره کیږی۔ كَظِيْمٌ چه دَ غم نه ډک وی او دَ هغے وجے نه خبرے هم نشی کولے۔

۱۸:۔ په دے کښ زجر دے په بله طریقے سره یعنی زنانه ضعیف جنس دے په نسبت دَ نارینه نو څه رنګ هغے ضعیف جنس هغه ذات ته نسبت کوئے چه علیم او قدیر دے۔ او ضعف ئے په دوه طریقے سره ذکر دے یو ضعف دَ زینت دَ زنانه دے ځکه چه زنانه بغیر دَ کالو نه بے ډوله ښکاریږی او نارینه خپل زینت کښ کالو ته محتاج نه دے دویم ضعف دَ کلام او دَ مقابلے کولو په خبرو کښ چه دَ حیا دَ وجے نه خپل مقصد او دلیل پوره نه شی ښکاره کولے۔ اَوَمَنْ يُّنَشَّؤُا فِي الْحِلْيَةِ دا دلیل دے چه دَ زنانه دَپاره کالی دَ سپینو او سرو جائز دی او احادیث په دے کښ ډیر وارد دی او کوم احادیث چه دَ سرو زرو دَ استعمال دَ منع په باره کښ راغلی دی هغه دَ بعض هغه ټیتو په نیز په هغه حالت حمل دی چه زکوٰة ئے نه ادا کوی او دَ بعض په نیز حمل دی په خلاف اولے او په حالت دَ اسراف باندے۔

اَوَمَنْ دا لفظ یا منصوب دے په فعل پټ سره یعنی تسبوا لله الله او عبدوا من ینشأ۔ یا مرفوع مبتدا ده او خبر ئے په دغه عبارت سره پټ دے۔

وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ

او گرځولي دي ملائک هغه چه بندګان د رحمان دي

إِنَاثًا ۚ أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ

زنانه ایا دوی لیدلي دي پیدائش د هغوی خامخا لیکلې کیږي بیان د دوی

وَيُسْأَلُونَ ﴿١٩﴾ وَقَالُوا لَوْ شَاءَ الرَّحْمَٰنُ

او تپوس تري به کیدیشي - او دوی وائي که چیرې غوښتې رحمان

مَا عَبَدْنَاهُمْ ۗ مَا لَهُمْ بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ

موږ به بندګي نه وه کړې د دوی نیشته دوی لره په دې باندې څیځ دلیل

إِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْ آتَيْنَاهُمْ كِتَابًا

نه دي دوی مګر په ټوک خبرې کوي - ایا ورکړې ده موږ دوی ته کتاب

سنا :- مخکښې زجر وؤ په دې خبره چه ملائکو ته ئې بنات د الله تعالیٰ ویل اوس زجر دے چه ملائکو ته مؤنث وائي او د هغوی صفتونه په تانیث سره کوي لکه په سورة نجم سک۲۷ او صافات سنڪا کښې د الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ دا صحیح عقیده ده په باره د ملائکو کښې په جواب د هغه چاچه تپوس اوکړي چه ملائک مذکر دي او که مؤنث دي او دا رد دے په هغه کسانو چه ملائک معبود ګڼړي. إِنَاثًا لکه چه فارسئ کښې یو ملک ته فرشته وائي او په پښتو کښې ورته فریښته یا ملائک وائي نو دا الفاظ هم مونث دي د دې لفظونو استعمال جائز نه دے. صحیح داده چه هغوی بندګان د الله تعالیٰ دي. أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ یعني ناریه - زنانه صفت خو په لیدلو سره معلومیږي نو دوی خو ملائک نه دي لیدلي - سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ یعني دوی په ویل چه موږ خو لیدلي نه دي لیکن موږ د مشرانو نه اوریدلي دي چه دا زنانه دي او مشران خو دروغ نه وائي نو موږ د دې وجې نه شهادت کوو چه دوی زنانه دي نو د هغې تردید ئې اوکړو په زجر سره چه دا شهادت د دوی په عملنامو کښې لیکلې کیږي وَيُسْأَلُونَ یعني د دوی نه به د دې د دلیل تپوس کیدے شي چه تاسو په څه وجه بې دلیله خبرې پسې روان وے. شربیني ویلي دي دا دلیل دے چه قول بې دلیله منکر کار دے او تقلید حرام دے سبب د ډیرې بدې دے.

سنا :- دا یل زجر دے د دوی په عمل د شرک باندے چه د ملائکو پاکے په بل مخ)

مِنْ قَبْلِهٖ فَهُمْ بِهٖ مُسْتَمْسِكُوْنَ ﴿۲۱﴾ بَلْ

مخکښ د دے نه نو دوی په هغه باندے دلیل نیوونکی دی - بلکه

قَالُوْٓا اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا عَلٰٓى

دوی وائی یقینًا موندلے دی مونږ مشران خپل په یو طریقه باندے او یقینًا مونږ په

اٰثٰرِهِمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَكَذٰلِكَ مَآ اَرْسَلْنَا

قدمونو د هغوی باندے هدایت والا یو - دغه شان نه دی لیږلی مونږ

عبادت کوی او دارنګ باطل دلیل ذکر کوی چه مشیّت (رضا) د الله تعالیٰ ده په دے شرک باندے او دا هم زوړ دلیل دے د مشرکانو لکه سورة انعام ۱۴۸ اوسورة نحل ۳۵ کښ ذکر شوے دے. د دے دلیل تردید ذکر کوی په دے قول سره مَا لَهُمْ بِذٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ یعنی د دوی څه دلیل دے په اثبات د رضا د الله تعالیٰ په شرک د دوی باندے ځکه رضا خوصفتِ باطنه دے د هغے د پاره دلیل پکار دے او هرچه خَلْق او وجود د کارونو دے نو دا خو دلیل په اراده د الله تعالیٰ باندے دے نه په رضا باندے. تر دے ځائے پورے معلومه شوه چه مشرکینو بالملائکه پنځه قسمه کفر کړے دے اوّل دا چه الله تعالیٰ لره ئے د جزء (ولد) عقیده لرلے ده - دویم دا چه ملائک بنات الله ګڼړی - دریم دا چه ملائکو ته زنانه وائي څلورم دا چه د هغوی عبادت کوی او پنځم دا چه د دے نسبت مشیت د الله تعالیٰ ته کوی یعنی بیلهٔ کار ئے ګڼړی.

۲۱:- دا هم زجر دے چه په دے کفریاتو باندے چه د دوی سره دلیل د کتاب الله نه نیشته یعنی د دوی دا عقیده لکه چه د عقل نه خلاف ده نو دا سے دا د نقل او وحی نه هم خلاف ده. اٰتَيْنٰهُمْ دا لفظ دلالت کوی چه هر کتاب د شرع دلیل نه دے بلکه هغه کتاب دلیل دے چه د طرف د الله تعالیٰ نه وی وحی جلی یا وحی خفی.

۲۲:- دا بل زجر دے او رد دے په دویم دلیل د مشرکانو باندے چه هغه اتباع د اٰباؤ او تقلید محض دے - عَلٰٓى اُمَّةٍ دلته په معنیٰ د طریقے او د دین ده ځکه چه امة هغه څیز ته ویلے کیږی چه د هغے قصد او اقتداء کیدے شی نو هغه لار او دین دے مُّهْتَدُوْنَ یعنی په اتباع د مشرانو کښ د پوره اهتداء دعویٰ کوی چه په دے تقلید کښ مونږ هیڅ خطائی نه ده کړے او نه زمونږ مشران غلط شوے دی.

مِنْ قَبْلِكَ فِيْ قَرْيَةٍ مِّنْ نَّذِيْرٍ اِلَّا قَالَ

ستا نه مخکښ په هیڅ کلی کښ

د یره درکوونکے ، مګر وئیل په

مُتْرَفُوْهَآ اِنَّا وَجَدْنَآ اٰبَآءَنَا عَلٰٓى اُمَّةٍ وَّاِنَّا

بے حده مالدارو د هغه یقینًا موندلے دی موږ مشران خپل په یو طریقه باندے او یقینًا موږ

عَلٰٓى اٰثٰرِهِمْ مُّقْتَدُوْنَ ﴿۲۳﴾ قٰلَ اَوَلَوْ جِئْتُكُمْ

په قدمونو د هغوی باندے اقتداء کوونکی یو - اوویل پیغمبر آیا اګرچه راوړے کړما تاسو ته

بِاَهْدٰى مِمَّا وَجَدْتُّمْ عَلَيْهِ اٰبَآءَكُمْ ؕ

ښهٔ هدایت د هغه نه چه موندلے دی تاسو په هغه باندے مشران ستاسو (خپل)

قَالُوْٓا اِنَّا بِمَآ اُرْسِلْتُمْ بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۲۴﴾

دوی په اُوویل یقینًا موږ په هغه څیز چه تاسو پرے رالیږلے شوی یئ کفر کوو -

سـ۲۳ :. دا تردید دے په دلیل د هغوی باندے چه اتباع آباء ده چه دا استدلال خو د تیرشوؤو قومونو (مشرکانو) هم وؤ نو هغوی باندے عذابونه راغلے وو نو معلومه شوه چه دا دلیل باطل دے اِلَّا قَالَ مُتْرَفُوْهَا هغه کسان چه د دنیا په نعمتونو کښ اومزو کښ د حد نه ورتیر شوی دی. او صیغه د مفعول کښ اشاره ده چه د ډیرے مستئ د وجے نه بے اختیاره شوے دی - مُقْتَدُوْنَ په اقتداء کښ معنیٰ د لزوم او دوام ده او اقرار د خپلے ناپوهے دے.

سـ۲۴ :. دا تردید دے د طرف د مخکنو رسولانو نه په دغه دلیل باندے چه تاسو به یا تابعداری د هدایت کوئے یا نه که د هدایت تابعدار یئ نو ما تاسو ته د پوره هدایت خبرے راوړے دی نو هغه ولے نه منئ اَهْدٰى دا صیغه یئ صرف الزامی طور سره ویلے ده یعنی بالفرض که ستاسو د مشرانو په لار کښ هدایت شته لیکن ما چه کوم څیز د الله تعالیٰ د طرف نه راوړے نو په هغے کښ خو ډیر هدایت دے نو که د دُنیا په کارونو کښ تاسو ته معلومه شی چه زمونږ په طریقه کښ د مشرانو د طریقے په نسبت ډیره فائده وه نو بیا خو تاسو د مشرانو طریقه پریږدئے نو د دین په باره کښ هم داسے اوکړئے كٰفِرُوْنَ معلومه شوه چه دوی ضد او عناد کښ پریوتل.

فَانْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ

نو بدله واخستله موږ دَ دوی نه نو اوګوره چه څه رنګ شو

عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿۲۵﴾ وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ

انجام دَ تکذیب کوونکو . او کله چه اوویل ابراهیم علیه السّلام

لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِمَّا تَعْبُدُونَ ﴿۲۶﴾

پلار خپل او قوم خپل ته یقیناً زهٔ بیزاره یم دَ هغه څانه چه تاسو يې بندګي کوئ

إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ ﴿۲۷﴾

مګر هغه ذات چه زهٔ يې پیدا کړے یم نو هغه به ما ته لار ښايي .

وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ

او پاتے کړه الله تعالیٰ دا کلمه باقي په اولاد دَ هغه کښ دے دَپاره چه دوی

۲۵: دا تخویف دے منکرینو ته او تسلّي ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته او فاء فَانْتَقَمْنَا کښ دَپاره دَدے ده چه دَدوی هیڅ دلیل او عذر پاتے نه شو سوا دَ ضد او عناد نه نو دا سبب شو دَ عذاب دَ دُنیا .

۲۶ ـ ۲۷ دا دلیل نقلي دے دَ ابراهیم علیه السّلام نه په رد دَ شرک کښ او په رد کولو دَ دلیل دَ مشرکانو کښ په اتباع دَآباؤ سره حاصل دا دے چه اتباع دَ مشرانو که شرعي دلیل وے نو ابراهیم علیه السّلام دَ خپل پلار او دَ مشرانو دَ قوم نه په څه وجه مخالفت کوؤ ؟ او دا رنګ ستاسو مشر ابراهیم علیه السّلام هم دے نو چه تاسو دَ مشرانو په اتباع پابند یے دلیل نیسے نو دَ ابراهیم علیه السّلام دَ اتباع نه ولے انکار کوئے .
إِنَّنِي بَرَاءٌ دا لفظ دَ واحد او دَ جمع دواړو دَپاره استعمالیږي ځکه چه دا مصدر دے او دَ وصف دَپاره راځي په معنیٰ دَ ذو براءت دے . إِلَّا الَّذِي فَطَرَنِي دا استثناء متصل ده ځکه چه دوی دَ الله تعالیٰ عبادت هم کاوؤ دوی به ویل الله تعالیٰ زموږ رب دے او دا نور معبودات زموږ شفعاء دی یا إِلَّا صفت دے په معنیٰ دَ غیر سره دے او دا کلمه پشان دَ کلمے دَ لا اله الا الله ده . سَيَهْدِينِ مراد تربیه استقامت دے ځکه چه په سبب دَ اعلان دَ دے کلمے سره ډیر مصیبتونه راځي او په هغې کښ استقامت ته ضرورت دے .

يَرْجِعُوْنَ ﴿۲۸﴾ بَلْ مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ

اوګرځي (د ګمراهۍ نه) - بلکه مزې د دنيا ورکړې ما دوی ته او مشرانو د دوی ته

حَتّٰى جَآءَهُمُ الْحَقُّ وَرَسُوْلٌ مُّبِيْنٌ ﴿۲۹﴾

تر دې پورې چه راغۍ دوی ته حق او رسول ښکاره بيان کوونکے -

وَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ وَّاِنَّا

او هر کله چه راغۍ دوی ته حق اوويل دوی دا جادو دے او يقيناً موږ

بِهٖ كٰفِرُوْنَ ﴿۳۰﴾ وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ هٰذَا

په دے باندے کفر کوونکي يو - او اُويل دوی ولے نازل نه کړے شو دا

۲۸:- په دے کښ وضاحت دے چه دا کلمه په ابراهيم عليه السّلام پورے خاص نه ده د پاره د دے چه مشرکين مکه اونه وائي چه دا کلمه زمونږ د پاره نه ده - وَجَعَلَهَا ضمير د فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے او ضمير د ها راجع دے ما قبل کلمے ته چه کلمه د توحيد ده - يعني دا کلمه د توحيد او د براءة عن الشرك الله تعالیٰ په ټول اولاد د ابراهيم عليه السّلام کښ جاري اوساتله په سبب د دے چه روستو د ابراهيم عليه السّلام نه ټول انبياء عليهم السّلام يې د دهٔ په اولاد کښ پيدا کړل او هغوی توحيد ته دعوت ورکړيدے - عقبه ټول اولاد ته ويلے کيږي نو يهوديان ، نصاریٰ، او مشرکين عرب پکښ ټول داخل دی اودا اجراء د نبوت او د توحيد د دهٔ په اولاد کښ په سبب د دُعا د دهٔ سره وه چه هغه په سورة بقره ۱۲۴ ۱۲۹ کښ ذکر ده او قبوليت د دے دُعا په سورة عنکبوت ۲۷ کښ هم ذکر دے -

۲۹ ۳۰:- په دے اياتونو کښ زجر دے په انکار د رسول او د قران په ذکر د اول سبب د انکار کولو او په دے کښ جواب د يو سوال دے هغه دا دے چه هر کله حجتونه د دوی ټول باطل دی او د ابراهيم عليه السلام کلمه د براءت دوی ته معلومه شويده نو بيا په څه وجه سره انکار کوی نو په جواب کښ هغه سبب ذکر کوی چه هغه مَتَّعْتُ هٰٓؤُلَآءِ وَاٰبَآءَهُمْ دے يعني سره د شرک کولو نه الله تعالیٰ دوی ته مالونه او صحت وعافيت او د دنيا ترقۍ ورکړے دی نو دوی دا خيال اوکړو چه موږ او زمونږه طريقه الله تعالیٰ ته خوښه ده نو چه رسول او قران راغے او توحيد يې ورته واضح کړو نو دوی انکار اوکړو او دا سے سورة فرقان ۱۸ کښ تير شويدی

الْقُرْاٰنُ عَلٰى رَجُلٍ مِّنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيْمٍ ﴿۳۱﴾

قران په یو سړی باندے دَ دوؤ کلو نه چه لوے دے .

اَهُمْ يَقْسِمُوْنَ رَحْمَتَ رَبِّكَ ؕ نَحْنُ

ایا دوی تقسیموی رحمت دَ رب ستا موتږ

قَسَمْنَا بَيْنَهُمْ مَّعِيْشَتَهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

تقسیم کړے دے دوی په مینځ کښ سامان دَ ژوند دَ دوی په ژوند دنیوی کښ

وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ

او پورته کړے دے موتږ بعض دَ دوی نه دَ بعضو دَ پاسه په درجو کښ

لِّيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا ؕ وَرَحْمَتُ

دَ پاره دَ دے چه اونیسی بعضے دَ دوی بعضو لره خدمتګاران او رحمت

رَبِّكَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ﴿۳۲﴾ وَلَوْلَآ اَنْ يَّكُوْنَ

دَ رب ستا غوره دے دَ هغه نه چه دوی جمع کوی . او که چرے نه جوړیدلے

اول الحق نه مراد قران دے او دویم الحق نه مراد توحید دے چه په قران کښ بیان شوید ے .

۳۱ . دا بل زجر دے او دویم سبب دَ انکار ذکر کوی هغه دا دے چه سبب دَ عظمت په نیز دَ منکرینو مالداری ده او نبوّت ئے حق دَ مالدار ګڼړلے دے لکه چه دا عقیده دَ سرمایه دارو وی نو دوی اویل چه په مکه او طائف کښ لوئے مالداران شته نو دا وحی هغوی ته ولے نه نازلیږی . مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ یو سړے خو دَ دوؤ کلو نشی کیدلے نو عبارت کښ تقدیر دے یعنی من احدی القریتین .

۳۲ . په دے کښ رد دے دَ هغوی په باطله نظریه باندے چه حاصل دَ هغے دا وؤ چه تقسیم دَ نبوت دوی په خپل اختیار او دَ خپلے رائے موافق ګڼړلو هر کله چه دَ دوی دَ رائے نه خلاف اوشو نو دوی انکار کوی حاصل دَ رد دا دے چه نبوت او رسالت خو دَ الله تعالیٰ خاص رحمت دے چه په هغے کښ دَ هیچا اختیار نه رسی نو دوی به څه وجے سره دَ هغے تقسیم په خپله رائے سره کوی نَحْنُ قَسَمْنَا الخ دا تاکید دَ رد دَ هغوی دے یعنی هغه دنیا چه یو ذلیل څیز دے دَ هغے تقسیم هم په اختیار دَ دوی کښ نیشته نو دَ عظیم نعمت چه نبوت دے هغه به څنګه دَ دوی په اختیار کښ شی .

لِلنَّاسِ اُمَّةً وَّاحِدَةً لَّجَعَلْنَا لِمَنْ يَّكْفُرُ

خلق	یو وله (په کفر باندے)	خلقا جوړکړے به وو موږ هغه	چا لره	چه	کفر کوی

مَعِيْشَتَهُمْ مراد دَ دے نه اسباب دَ ژوند دَ دنیا دی او هر کله چه دا تقسیم په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دے دَ دے وجے نه یو بے عقله ساده انسان به وی او هغه به مالدار وی او بل هوښیار به وی لیکن فقیر به وی دا رنګ کله یو انسان دَ مال ګټلو دَ پاره ډیرے طریقے او حیلے استعمال کړی لیکن مال ورته حاصل نشی او کله یو انسان ته بغیر دَ تکلیف نه ډیر مال حاصل شی نو معلومه شوه چه دا اختیار او تصرف دَ الله تعالیٰ دے. او دلیل دَ تقسیم دا دے چه وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ یعنی څوک غنی او څوک فقیر او څوک حُر (ازاد) او څوک مریے او څوک بادشاه او څوک رعیت او څوک هوښیار او څوک کم عقل دا ټول په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دی لِيَتَّخِذَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا سُخْرِيًّا دا حکمت دَ تفاوت دَ درجاتو دے هغه دا دے چه بعض خادم او نوکر او مزدور شی دَ بعض نورو دَ پاره نو نظام دَ دُنیا به چلیږی په دے معنیٰ سُخْرِيًّا دَ مسخّر کولو نه ماخوذ دے. دویمه معنیٰ دا ده چه لام دَ عاقبت دے او سخریا معنیٰ دا چه "وریورے مسخرے کیدے شی" یعنی دَ دغه تفاوت نتیجه او اثر دا دے چه مالدار په غریب پورے مسخرے کوی.

فائده: په دے ایت کښ رد په نظریه دَ مساوات (سوشلزم) باندے دے چه بعض خلق وائی چه ټول خلق دِ په مال کښ برابر وی دَ غنی او فقیر مرتبے دِ پکښ نه وی او دا نیځ نظام دے. او څوک وائی چه دا مالداری غریبی دا دَ ظالمانو نظام دے دا تقسیم خو الله تعالیٰ نه دے کړے نو په دے ایت کښ الله تعالیٰ واضح کړه چه دا تقسیم په تفاوت سره زما نظام دے او دَ هغے حکمت ئے هم ذکر کړو. که چرے ټول خلق په مال کښ مساوی شی نو بیا هیڅوک دَ یل خدمت نوکری نشی کولے او کورنئ کښ به الفت او محبت او همدردی وغیره اخلاق ختم شی نو دَ دنیا نظام به خراب شی. او په کومو ملکونو کښ چه دَ مساوات دعوی کوی هغه بالکل دهوکه ده ځکه چه په هغے کښ څوک دَ دنیا دَ عزت په کار باندے مشغول دے لکه بادشاه او افسر دے خدام دے او څوک دَ ذلت په کار کښ مشغول دے نو دعویٰ دَ مساوات ئے باطله ده. وَرَحْمَةُ رَبِّكَ خَيْرٌ اشاره ده چه نبوت اعلیٰ او اشرف دے دَ دُنیا دَ خیز و نو نه نو دَ هغے اختیار هم دَ الله تعالیٰ سره دے.

بِالرَّحۡمٰنِ لِبُيُوۡتِهِمۡ سُقُفًا مِّنۡ فِضَّةٍ

په رحمان پاندے د پاره د کورونو د هغوی چتونه د سپینو زرو

وَّ مَعَارِجَ عَلَيۡهَا يَظۡهَرُوۡنَ ﴿۳۳﴾ وَلِبُيُوۡتِهِمۡ

او پاوړئ چه په هغے پاندے دوی درخیږی. او د پاره د کورونو د دوی

اَبۡوَابًا وَّ سُرُرًا عَلَيۡهَا يَتَّكِـُٔوۡنَ ﴿۳۴﴾ وَزُخۡرُفًا

دروازے او کټونه چه په هغے پاندے آرام کوی او ورکړے به دوما) سره زر

۳۳ ۳۴ ۳۵ : په دے ایاتونو کښ ذلت د دُنیا ذکر کوی متعلق دے د خَيۡرٌ مِّمَّا يَجۡمَعُوۡنَ سره او دا رنګ متعلق دے د ۳۱ سره یعنی بل رد د هغوی په قول باندے چه هغوی سبب د عظمت مالداری ګنړی نو الله تعالیٰ د هغے ذلت ذکر کوی. حاصل دا دے چه د دنیا مالونه د الله تعالیٰ په نیز دومره ذلیل دی چه د مؤمن د شان سره هیڅ مناسبت نه لری بلکه د کافرانو سره پوره مناسبت دے نو پکار خو دا وه چه الله تعالیٰ دا ټول مالونه کافرانو له ورکړے وے او مؤمنانو ته په کښ هیڅ نه ورکولے لیکن یو حکمتِ الهیه د دے نه مانع دے هغه دا دے چه بیا به ټول خلق کافر شی مؤمن به پکښ هیڅوک نه وی نو معلومه شوه چه کله یو شے فی نفسه قبیح وی خو د یو سبب په وجه سره هغه حسن لغیره اوګرځی او ثانیا د دے هغه حدیث دے که د دنیا وزن (عزت) د الله تعالیٰ په نیز د ماشی د وزر په مقدار وے نو کافر ته به یے ترینه یو ګوټ هم نه وے ورکړے. وَلَوۡلَآ اَنۡ يَّكُوۡنَ النَّاسُ اُمَّةً وَّاحِدَةً لولا شرطیه دے په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه وجود د شرط سبب د نفی د جزا وی او که وجود حقیقی وی یا نفی د جزا سبب وی د پاره د نفی د شرط کله چه وجود فرضی وی دلته رو ستنے معنیٰ ده او مراد د امة واحدة نه د ټولو خلقو کافر کیدل دی یا ګرځیدل د ټولو طلبګارے د دُنیا ته دی معنیٰ داده که چرے نه وے د ټولو خلقو کافر کیدل د الله تعالیٰ خوښ نه دی نو د دے وجے نه کافرانو ته یے ټول مالونه نه دی ورکړی او برعکس مطلب یے دادے چه ټول مالونه الله تعالیٰ کافرانو له نه دی ورکړی د پاره د دے چه ټول خلق کافران یا دنیا پرست نه شی. لِمَنۡ يَّكۡفُرُ بِالرَّحۡمٰنِ یعنی صفت د رحمانیت خو تقاضا کوی چه ټول نعمتونه لوئے او واړه د الله تعالیٰ د طرف نه دی او دوی ورله د هغه سره شریک یا ولد جوړوی سُقُفًا مِّنۡ فِضَّةٍ چتونه او پاوړے او دروازے او کټونه دا څلور یے د دے وجے نه خاص ذکر کړل چه عادت دا دے

وَإِن كُلُّ ذَٰلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا ۚ

او نه دی دا ټول مګر لږ مزې د ژوند دنیوی دی

وَالْآخِرَةُ عِندَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٣٥﴾ وَمَن

او اخرت په نیز د رب ستا دپاره د تقوی والو دے۔ او چاچه

يَعْشُ عَن ذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُ

لږے سترګے پټے کړے د ذکر د رحمٰن نه جوخت په او نګوؤ په ده پسے

شَيْطَانًا فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ

شیطان نو هغه په ده ملګرے وی - او یقینًا دوی

چه دا جوړیږی د لرګونه یا د او سپنے نه او نور ابادی سیمټو خښتو ګټو نه کیږی نو چه کوم د او سپنے یا لرګونه جوړیږی نو هغه په ئے د سپینو زرو نه جوړ کړے وے او سپین زر ئے د دے وجے نه خاص کړل چه د هغے سره په مکان کښ رڼا هم وی۔ اول خو د کمرے چهت ضروری وی نو بیا چهت ته د ختلو ذریعه چه معارج دی نو بیا دروازے پکاروی نو روستو کټو نه د کیناستلو او ارام کولو دپاره پکاروی د دے وجے نه په دے ترتیب سره ئے ذکر کړل۔ وَزُخْرُفًا عطف دے په محل د من فضة نو معنیٰ دا چه چهتونه په د سپینو او سرو زرو وے یا مفعول دے د فعل پټ د پاره یعنی ویجعل لهم زخرفًا او زخرف سرو زرو ته ویلے کیږی لکه او یکون لك بیت من زخرف (اسراء) او دارنګ زینت او ښائست ته هم ویلے کیږی لکه حتی اذا اخذت الارض زخرفها (یونس)۔ (سوال) هرکله چه ډیر مالونه کافرانو ته ورکول سبب ګرځیدلے شی دپاره د کفر د عامو خلقو نو مؤمنانو له په ئے ډیر مالونه ورکړے وے نو ټول خلق به مؤمنان ګرځیدلے وے؟ (جواب) دغه ایمان چه د دنیا دپاره وی نو هغه ایمان په شرع کښ اعتبار نه لری د دے وجے نه د هغه جانب ذکر ئے او نکړو۔

سل۳۷:۔ د دے ایت نه تر سل۴۵ پورے دویم باب دے په دے کښ زجر او تخویف دے معرضینو د قرآن نه بیا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او صداقت د قرآن دے بیا دلیل نقلی اجمالی دے بیا دلیل نقلی تفصیلی دے د موسیٰ علیه السلام نه بیا زجر دے منکرینو ته او دلیل نقلی تفصیلی دے د عیسیٰ علیه السلام نه۔ په دے (سل۳۶) کښ ذکر دے په اعراض کولو سره (پلټه په بل مخ)

لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ
خامخا اړوی دوی لره دَ لارې (دَ حق) نه او دوی ګمان کوی چه دوی

مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۷﴾ حَتّٰى إِذَا جَاءَنَا قَالَ يٰلَيْتَ
هدایت والا دی - تر دے پورے چه کله راشی موږ ته وائی په هائے ارمان دے

دَ قرآن نه چه دا پیدا کیږی په سبب دَ محبت دَ دنیا سره چه مخکښ ایت کښ دَ هغے ذلت بیان شو. وَ مَنْ يَّعْشُ دا دَ عشا يعشو نه اغستلے شوے دے اعشیٰ کـمزوری نظروالا ته وئیلے کیږی اوهغه څوک چه دَ شپے ئے نظر نه لګی او دَ ورځے لـګی او دَ چاچه نظر صحیح وی لیکن قصدًا ځان روند کړی نو دَ هغه دَ پاره عشـیٰ یعشیٰ استعمالیږی اودلته اکثر قراءة په پیښ دَ شین سره دے یعنی اوله معنیٰ مراده او په دے کښ لطیقه اشاره ده چه دَ قرآن نه معمولی (لږ) اعراض اوکړی نو سبب دَ عذاب دے نوچه پوره اعراض ئے کړے وی نو هغه په طریقه اولیٰ سره هلاک او تباه دے. نُقَيِّضْ لَهٗ شَيْطَانًا. تقییض په اصل کښ پیوست کیدل دَ پوستکی دَ اګئ دی په اګئ پورے او دَ پاترو دَ پیازو دی په یو بل پورے نو داکنایه ده دَ پوره مسلط کیدلو نه. شیطان عام دے که انسی وی اوکه جنّی وی فَهُوَ لَهٗ قَرِيْنٌ یعنی هیڅ وخت تری نه جدا کیږی. یعنی باطلے عقیدے عملونه اخلاق معاملات وغیره ورته ښائسته کړی او دَ حلالو ئے منع کوی او دَ طاعت نه منع کوی او حرام او معصیت ورته ښائسته کړی. په دے ایت کښ دلیل دے چه چا قرآن پریښودلو او دَ هغے نه ئے معمولی غفلت اوکړو نو شیطانانو ته دَ دا سے سړی ګمراه کول اسان شی نو قرآن مضبوطه قلعه ده دَ شیطان نه دَ بچ کیدلو دَ پاره. یو خو دَ دے وجے نه چه په قرآن کښ دَ شیطانی شبها تو پوره جوابونه دی او بل دا چه په قرآن کښ الله تعالیٰ برکت

ﺳ۳۷- وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّوْنَهُمْ ضمیرونه دَ جمع ئے ځکه راوړل چه من او شیطان په معنیٰ دَ جمع کښ دی السَّبِيْلِ مراد تر ینه سبیل الله ده چه هغه قرآن دے اوذکرالرحمان دے وَيَحْسَبُوْنَ أَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ اشاره ده چه ګمراهی دوه قسمه ده یو دا چه ګناه ورته ګناه ښکاری لیکن دَ بے پروائی دَ وجے ئے کوی نو دا خو مرتبه دَ فسق ده او دویم قسم دا چه ګناه ورته ثواب ښکاری او په هغے کښ فائدے ګنړی نو دا مرتبه دَ بدعت ده که په عقیده کښ وی اوکه په عمل کښ وی او دا درجه ډیره خطرناکه ده ځکه چه انسان دَ دے نه توبه نه اوباسی په دے وجه چه ښه کار ئے ګنړی نو دلته دا دویمه مرتبه مراده ده لکه په سورة کهف ۱۰۴ او فاطر ۸ کښ دی او په دے کښ اشاره ده چه

بَيْنِيْ وَبَيْنَكَ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ فَبِئْسَ

په مینځ زما او ستا کښې لرې والے د مشرق مغرب وے نو ته ناکاره

الْقَرِيْنُ ﴿۳۸﴾ وَلَنْ يَّنْفَعَكُمُ الْيَوْمَ إِذْ ظَّلَمْتُمْ

ملګرے وے ۔ او هیچرے به نفع ورنکړی تاسو ته نن ورځ کله چه تاسو ظلم (شرک) کړے دے

أَنَّكُمْ فِي الْعَذَابِ مُشْتَرِكُوْنَ ﴿۳۹﴾ أَفَأَنْتَ

دا خبره چه تاسو په عذاب کښې شریک یئ ۔ آیا تو ته

تُسْمِعُ الصُّمَّ أَوْ تَهْدِي الْعُمْيَ وَمَنْ كَانَ

آوروے کونړو ته یا هدایت ورکوے ړندو ته او هغه چاته چه دی

د بنهٔ او بد تمیز په قران سره کیږی او دے انسان خو د هغه نه اعراض کړے دے

د دے وجے نه بدکار ته بنهٔ کاروائی۔

۳۸:۔ په دے کښې تخویف اخروی دے۔ إِذَا جَآءَنَا ضمیر من یعش ته راجع دے او عبادت کښې پنه والے دے یعنی فعلم ضلالة (پخپله ګمراهئ باندے عالم شی) نو ارمان به اوکړی۔ بُعْدَ الْمَشْرِقَيْنِ یعنی چه ستا نه دومره لرے وے لکه چه مشرق د مغرب نه لرے دے یا مشرق د ژمی او د اوړی چه دیو بل نه لرے دی۔

۳۹:۔ دا هم تخویف کښې داخل دے او جواب د سوال دے هغه دا دے چه کله بلاء عامه وی نو اسانه وی نو چه په عذاب کښې ډیر خلق شریک وی نو اسان به وی ؟ جواب اوشو چه عذاب د جهنم د خلقو په ډیروالی سره نه اسانیږی یا دا سوال دے چه افسوسونه او ارمانونه ډیر شی نو څه غم به سپک شی نو جواب اوشو چه دا هم نفع نه ورکوی وَلَنْ يَّنْفَعَكُمْ ضمیر راجع دے مخکښې قول ته چه یالیت بینی وبینک الخ او أَنَّكُمْ کښې لام اجلیه پټ دے یا فاعل د لن ینفعکم أَنَّكُمْ دے ۔ إِذْ ظَّلَمْتُمْ اذ د پاره د علت دے او مراد ترینه شرک دے۔ د ظرف د پاره نه دے ځکه د ظلم زمانه هم دنیا ده او الیوم نه مراد آخرت دے نو ظرفیت نه صحیح کیږی۔

فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۴۰﴾ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ بِكَ

په گمراهئ ښکاره کښې . نو که چرې یوځو مونږ تا

فَاِنَّا مِنْهُمْ مُّنْتَقِمُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَوْ نُرِيَنَّكَ

نو یقیناً مونږ دَ دوی نه بدله اخستونکی یو یا به اوښایو تاته

الَّذِىْ وَعَدْنٰهُمْ فَاِنَّا عَلَيْهِمْ مُّقْتَدِرُوْنَ ﴿۴۲﴾

هغه عذاب چه وعده کړې ده مونږ دَ دوی سره نو یقیناً مونږ دَ دوی په عذاب پاندې پوره قدرت لرو۔

فَاسْتَمْسِكْ بِالَّذِىْٓ اُوْحِىَ اِلَيْكَ ۚ اِنَّكَ

نو کلک اونیسه هغه چه وحی کړې شویده تاته یقیناً ته

ف۴۰ :- په دې ایاتونو کښې تسلّی ده نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم ته په مختلفو طریقو سره په دې ایت کښې اوله طریقه ده چه که چرې داخلق دَ قران نه اعراض کوی او ایمان نه راوړی نو په تا پاندې هیڅ وبال نیشته ځکه چه مانع دَ دوی دَ طرف نه دې چه دَ قران نه کاڼه اوړانده دی۔ فِىْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ فی دَ انغماس (ډوبیدلو) دَپاره راغئ یعنی چه په ګمراهئ کښې دَ هر طرف نه ډوب او راګیر دی لارې دَ هدایت ورته بندې وی۔

ف۴۱ ف۴۲ :- په دې کښې دویمه طریقه دَ تسلّئ ده یعنی مونږ به دې منکرینو ته ضرور عذاب ورکوو یا به ستا دَ هجرت یا وفات نه روستو عذاب ورکړو یا به ستا په حضور کښې عذاب راولو نو ته هیڅ پرواه مکوه او دارنګ په سوره یونس ف۴۶ او سورة رعد ف۴۰ او سورة غافر ف۷۷ کښې تیر شویدی۔ فَاِمَّا نَذْهَبَنَّ اذهاب نه مراد یا هجرت کول دی دَ مکې نه یا وفات کیدل دی۔ اَوْ نُرِيَنَّكَ په دویمه معنیٰ دَ اذهاب کښې دلیل دې چه اراءة (لیدل) مقابل دَ وفات دې یعنی روستو دَ وفات نه دَ دنیاوالو حالات نشی لیدلې او دَ حسن او قتاده په روایت کښې دَ دې ایاتونو مصداق واقع کیدل دَ فتنو دی په مسلمانانو کښې روستو دَ وفات دَ نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم نه نو اللّٰه تعالیٰ دَ نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم په ژوند کښې هغه ته هغه حالات اونه ښودل په امت کښې چه هغه پرې خوشحاله شو او روستو دَ وفات نه فتنې شورو شوې او دا اکرام دې زمونږ دَ نبی صلّی اللّٰه علیه وسلّم ځکه چه دَ نورو انبیاء علیهم السلام په ژوند کښې دَ هغوی په امتونو به عذابونه راتلل۔

عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿۴۳﴾ وَإِنَّهٗ لَذِكْرٌ لَّكَ

په لار نیغه باندې یې - او یقیناً دا قرآن ذکر ستا دے

وَلِقَوْمِكَ ۚ وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۴۴﴾ وَسْـَٔلْ مَنْ

او ستا د قوم دے او زر دے چه تاسو نه به تپوس اوکړیشي - او تپوس اوکړه د هغو چا نه

أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رُّسُلِنَآ أَجَعَلْنَا مِنْ

چه لیږلے دي موږ ستا نه مخکښې رسولان زموږ چه آیا جوړ کړیدي موږ

دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً يُّعْبَدُوْنَ ﴿۴۵﴾ وَلَقَدْ

سوا د رحمان نه نور واکداران د نفع او ضرر چه د هغوی عبادت کیدیشي - او یقیناً

۴۳:- په دے کښې تشجیع ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته روستو د تسلّی نه یعنی که دا خلق منی اوکه نه منی خو ته په کتاب د الله تعالیٰ باندے کلک شه په بیان کولو او عمل کولو او دلیل نیولو کښې إِنَّكَ دا اول علت دے د ماقبل یعنی ځوک چه په صراط المستقیم باندے وی نو په هغه باندے تمسّك په کتاب الله سره لازم دے او دا دلیل دے چه لار د نبی صلّی الله علیه وسلّم صراط مستقیم ده۔

۴۴:- دا دویم علت دے د فاستمسك د پاره - لَذِكْرٌ په معنیٰ د شرافت او عزت دے او قوم نه مراد قریش او عرب دی یعنی د دوی په لغت کښې نازلیدال د قرآن د دوی شرافت دے یا ذکر په معنیٰ د وعظ او تذکره دے او د قوم نه مراد ټول امت دے وَسَوْفَ تُسْـَٔلُوْنَ تپوس به کیدیشي په باره د نعمت د قرآن کښې د لوستلو او د عمل کولو او د بیان کولو په باره کښې په آیت کښې اشاره ده چه قرآن د نعمتونو د الله تعالیٰ نه یو ډیر لوئے نعمت دے۔

۴۵:- دا دلیل نقلی اجمالی دے د ټولو انبیاؤ علیهم السّلام نه لکه چه په سورة نحل ۳۶ او سورة انبیا ۲۵ کښې دے او مخکښې سره ربط یې دا دے لکه چه په قرآن کریم کښې ذکر د توحید دے نو دا سے د انبیاؤ دعوت هم د توحید د پاره وو نو دعوت د قرآن موافق دے د دعوت د ټولو رسولانو سره - وَاسْـَٔلْ مَنْ أَرْسَلْنَا (سوال) زموږ د رسول صلّی الله علیه وسلّم زمانه د پیدائش او د ژوند کښې خو نور پیغمبران نه وو نو هغه ته څه رنګ امر اوشو چه د هغوی نه تپوس اوکړه ؟ (جواب) اول جواب دا دے چه دا حکایت د شپے د اسراء دے چه په دغه شپه د بعض انبیاو سره ملاقات اوشو نو ورته امر اوکړے شو چه اوس د دوی نه تپوس اوکړه لکه چه دا روایت

(پاتے په بل مخ)

اَرْسَلْنَا مُوْسٰی بِاٰیٰتِنَآ اِلٰی فِرْعَوْنَ

لیږلے وو مونږ موسٰی علیه السلام په معجزاتو زمونږ سره فرعون ته

وَمَلَا۟ئِهٖ فَقَالَ اِنِّیْ رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۴۶﴾

او غټانو د قوم د هغه ته نو اُوئیل هغه یقینًا زه رسول د رب د عالمینو یم۔

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِاٰیٰتِنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا

نو هر کله چه راغے دوی ته په معجزاتو زمونږ سره دغه وخت دوی په هغه پورے

قرطبی ابن کثیر وغیره نقل کړے دے بیا پکښې دوه روایتونه دی اول دا چه هغه ترے تپوس اوکړو نو هغوی ورته جواب اوکړو چه مونږ په توحید پابند ہے

رالیږلے شوے یو دویم روایت دا دے چه هغه تپوس نه دے کړے اُوئیل ئے چه زما یقین دے نو تپوس ته حاجت نیشته او امر دَ وَاسْاَلْ دَپاره دَ وجوب نه وو بلکه دَپاره دَ الزام وو په مشرکانو باندے۔ دویم جواب دا دے چه په عبارت کښې حذاف دے یعنی امم من ارسلنا۔ یا من ارسلنا الیهم او مراد ترینه یهود او نصارٰی وو چه موجود وو په زمانه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کښې او مقصود په دے کښې الزام وو په مشرکین عرب باندے۔ دریم جواب دا دے چه عبارت کښې حذاف دے یعنی کتب من ارسلنا او دَ سوال نه مراد نظر کول دَ هغوی په کتابونو او دیتو نو کښې دَ لکه تورات او انجیل او دَ دے وجے نه دَ دے نه روستو آیاتونو کښې حال دَ موسٰی او دَ عیسٰی علیهما السّلام ئے ذکر کړے دے۔ اَجَعَلْنَا مِنْ دُوْنِ الرَّحْمٰنِ اٰلِهَةً په دے لفظ جعلنا کښې اشاره ده چه دَ مشرکانو سره اختلاف دَ موحدینو په مجعول الهو کښې دے لکه چه اوس بعض خلق هغوی ته عطائی وائی او عوام تعبیر کوی چه اولیاؤ بزرګانو ته الله تعالٰی برخے ورکړے دی چا ته ئے اختیار ورکړے دے دَ اولاد ورکولو چا ته ئے اختیار ورکړے دَ مال ارکولو چا ته دَ ګوزن لرکولو چا ته دَ یادو لرکولو چا له دَ دانو جوړولو او چا له ئے مطلق واک ورکړے دے او چا ته ئے علم غیب عطائی ورکړے دے۔ یعنی دوی دَ الله تعالٰی نه سوا مستقل اِلٰهه نه دی ګڼړلی او دا حقیقت دَ شرک دے یُعْبَدُوْنَ دَ عقیدے دَ الوهیت سره عبادت کول لازم دی او اَجَعَلْنَا کښې همزه دَ استفهام انکاری دے لکه چه سورۃ نحل ۳۶ او انبیاء ۲۵ پرے ګواه دی۔

۴۶ ۔۔ دا دلیل نقلی تفصیلی دے دَ موسٰی علیه السلام نه او عاقبت دَ تکذیب کوونکو ذکر کوی په واقعه دَ فرعونیانو سره او دَ ۳۱ سره هم تعلق لری یعنی لکه

يَضْحَكُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَمَا نُرِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ اِلَّا

خندا کوله - او نه خودله موږ دوی ته هیڅ معجزه مګر

هِيَ اَكْبَرُ مِنْ اُخْتِهَا وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ

هغه به غټه وه د ملګرې د هغې نه او ونیول دوی موږ دوی لره په عذاب سره

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَقَالُوْا يٰۤاَيُّهَ السّٰحِرُ ادْعُ لَنَا

د دې د پاره چه اوګرځي د ګمراهۍ نه - او دوی اوویل اے جادوګره دُعا اُوغواړه موږ لره

چه اخری رسول پاندے مشرکین مکه طعن کوؤ چه دے مسکین او غریب دے نو دا سے فرعون هم د موسٰی علیه السّلام په باره کښ اعتراض کړے وؤ یعنی د فرعون په مقابله کښ موسٰی علیه السّلام فقیر مسکین وؤ بِاٰيٰتِنَا مراد د دے نه نهه معجزات دی چه سورة اعراف ۱۰۷ ۱۰۸ ۱۳۰ ۱۳۳ او سورة اسراء ۱۰۱ کښ ذکر شوی دی رَسُوْلُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ په دے کښ اثبات د رسالت او ذکر د مرسِل دے او اشاره ده مرسَل به ته چه هغه مسئله د توحید د ربوبیت ده چه فرعون د هغې نه منکر وؤ يَضْحَكُوْنَ مراد د خندا کولو نه استهزاء او مسخرے کول دی په دے وصف راوړلو کښ اشاره وه د هغوی ډیرے سرکشئ کولو ته ځکه چه خندا کوونکے سوچ او فکر نه کوی. ۴۸ اشاره ده چه د دوی خندا کول بے ځایه وو ځکه چه دغه ایات واړه او معمولی نه وو. (سوال) مِنْ اٰيَةٍ اِلَّا هِيَ اَكْبَرُ دا لفظ خو تقاضا کوی چه هره یوه معجزه د بلے نه لویه وه نو اوله د دویمے نه لویه وه نو دویمه د اولے نه لویه وه او دا خو د حقیقت نه مخالفه خبره ده چه اکبریت (په تفضیل سره) په دواړه جانبونو کښ تشی کیدلے (اول جواب) دا دے چه دا اکبریت د هر یو په زعم د لیدونکی کښ دے د دے وجے نه چه هغه ټول ایات په لوے والی کښ شریک وو، (دویم جواب) دا دے چه په ایت کښ تخصیص دے یعنی ما نریهم من ایة (متاخرة) الا هی اکبر من اختها (السابقة) هره یو روستئ د مخکښ نه لویه وه - ځکه په اول ایت سره یو علم حاصل شو نو په دویم ایت کښ د مخکښی علم نه علاوه بل علم حاصل شو نو دوه علمونه شول علی هذا القیاس تر دے چه په نهم ایت کښ نهه علمونه حاصل شول. وَاَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ په دے کښ اشاره وه چه بعض ایات په شکل د عذابونو کښ وو -

رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ إِنَّنَا لَمُهْتَدُونَ ﴿٤٩﴾

د رب خپل نه په دے وجه چه وعده ئے کړیده ستا سره یقینًا موږ به هدایت قبول کړو ۔

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الْعَذَابَ إِذَا هُمْ يَنْكُثُونَ ﴿٥٠﴾

نو هرکله چه لرے کړو موږ د دوی نه عذاب د غه وخت دوی وعده به ماتوله ۔

وَنَادَىٰ فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ

او آواز اوکړو فرعون په قوم خپل کښ اُویل ئے اے قومه

أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَٰذِهِ الْأَنْهَارُ

آیا نیشته مالره بادشاهی د مصر او دا دلے هم

تَجْرِي مِنْ تَحْتِي ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٥١﴾

بهیږی لاندے د حکم زما نه آیا نو تاسو نه وینئ ۔

سے ۴۹ :۔ دا د مشرکانو عادت دے چه په سختئ کښ د خپلو معبودان باطله نه نا امیده شی او د الله تعالیٰ نه مداد غواړی نو داسے فرعونیانو هم په دُعا د موسیٰ علیه السّلام سره وسیله اونیوله الله تعالیٰ ته او دا دلیل وو چه د دوی کفر عنادًا وو۔ یَاَیُّهَا السّٰحِرُ (سوال) هرکله چه دوی مجبوره شو دے دُعا ته نو د موسیٰ علیه السّلام بے عزتی په وصف د ساحر سره ولے کوله ؟ اول جواب چه د دوی په اصطلاح کښ عالم ته په ساحر ویلے کیدلو دویم دا دے چه دا د نهایت جهل د وجے نه چه دوی خپل عادتی خبرو نه بریږدی ۔ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ عهد نه مراد امن ورکول دی د عذاب نه په سبب د ایمان راوړلو او دا ذکر ده په طٰه سے کښ او هرکله چه بنا د سورة اعراف په تفصیلی واقعاتو ذکر کوولو باندے وه نو هلته بعض کلمات ئے په نسبت د دے سورت سره زیات ذکر کړے دی ۔ او په دے سورت کښ اختصار مقصد دے ۔

سے ۵۱ :۔ هرکله چه فرعون سره د آیاتو د موسیٰ علیه السّلام او د استجابت د دُعا د هغه نه ویره پیدا شوه چه زما قوم به زما نه مخالفت اوکړی او د موسیٰ علیه السّلام سره به ملګری شی نو د خپل قوّت مظاهره کوی او تکبر کوی په دنیوی بادشاهئ باندے او د موسیٰ علیه السّلام توهین او تذلیل کوی او په دے کښ اشاره ده عذر د نقض عهد ته هم چه زهٔ د موسیٰ علیه السّلام سره لوظ د دے وجے نه پوره کووم نه

أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ ۙ

ایا زهٔ غوره یم دَ دے سړی نه چه دے ذلیل دے

وَلَا يَكَادُ يُبِينُ ﴿٥٢﴾ فَلَوْلَا أُلْقِيَ عَلَيْهِ

او نه دے نزدے چه ښکاره خبره اوکړی۔ نو ولے نه شی راغورځیدلے په ده باندے

چه زهٔ خاوند دَ قوت یم۔ وَنَادٰی فِرْعَوْنُ اعلان دَ حکومت په طریقه دَ منادی سره وی دَ دے وجے نه تعبیر ئے په نادٰی سره اوکړو اَلَیْسَ لِیْ مُلْكُ مِصْرَ لفظ دَ لِیْ ئے مخکښ کړو اشاره ده حصر او تخصیص ته یعنی بادشاهی دَ مصر خاص زما ده ما سره پکښ هیڅوک شریک نیشته باقی خلق خو زما رعیت دے۔ وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِیْ اول جمله کښ نظام قانون ته اشاره ده او په دے جمله کښ معاشی نظام ته اشاره ده چه دا دواړه زما په اختیار کښ دی۔ دَ رود نیل نه ئے ډیر نهرونه جدا کړے وو چه دَ هغے نه څلور غټ غټ نهرونه وو او په کورونو، محلاتو او باغاتو کښ چلولے وو۔ دَ هغه څلورو نومونه دادی ۱ نهر الملك، ۲ نهر طولون ۳ نهر تنّیس، ۴ نهر دمیاط۔ او بعض مفسرینو ویلی دی چه مراد دَ انهار نه دَ ملک مشران سرمایه داران وغیره دی او بعضو ویلی دی چه مراد تری نه مطلق مالونه دی۔

۵۲ ۔ په دے کښ دَ موسٰی علیه السّلام تحقیر او سپکوالے کوی۔ هُوَ مَهِیْنٌ یعنی قوت دَ ملکیّت او بادشاهی ئے او مال ئے نیشته نهرونه ئے نیشته کارونه په ځپله کوی وَلَا یَكَادُ یُبِیْنُ یعنی فصاحت بلاغت ئے نیشته خپل مقصد صاف نشی بیانولے۔ او دا دواړه خبرے دَ ده ښکاره دروغ وو ځکه چه موسٰی علیه السّلام خو ډیر عزت مند شریف اخلاقو والا ښائسته صورت والا وو حدیث دَ بخاری او مسلم کښ راغلے دی نبی صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی "چه ما دَ اسراء په شپه کښ موسٰی علیه السّلام لره اولیدو چه سړے سُور رنګ ته مائل غنم رنګے دنګ قد والا ګنګوڅے ویښتو والا وو ګویا که دے دَ سړو دَ شنوءَ قبیلے نه وو۔"
او دَ موسٰی علیه السّلام رعب وو په فرعون باندے او دا رنګ موسٰی علیه السّلام ډیر فصیح او بلیغ وو که چرے دَ هغه په ژبه کښ غوټه وه وړوکوالی کښ نو په دُعا (واحلل عقدة من لسانی) سره ختم شویوه۔ لیکن دا دَ متکبرینو عادات دی چه په دروغو اوصافو سره حق پرست خلق موصوف کوی۔

أَسْوِرَةٌ مِّنْ ذَهَبٍ أَوْ جَاءَ مَعَهُ الْمَلٰٓئِكَةُ

کړې د سرو زرو یا نه راغلی د ده سره ملایک

مُقْتَرِنِيْنَ ﴿۵۳﴾ فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ فَاَطَاعُوْهُ ؕ

چه مقونه یې تړلې دي - نو دهوکه یې کړه قوم خپل نو هغوی د ده تابعداری وکړه

اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۵۴﴾ فَلَمَّا

یقینا هغوی وو قوم نا فرمان - نو هرکله چه دوی

۵۳:- دا هم تحقیر او تکذیب د موسٰی علیه السّلام کوي په طریقه د قیاس د رسولانو
د الله تعالٰی په قاصدانو د بادشاهانو د دنیا په هغه زمانه کښ چه هغوی به قاصدان
نه چه هغه به ډیر مقرب وو په لاسو نو کښ د سرو زرو بنګړي او کنګن اچول او د
هغه په ملګرتیا کښ به یې ډیر خدمتګاران روانول د دے وجے نه فرعون په
موسٰی علیه السّلام باندے دا دواړه اعتراضونه اوکړل او ثابتول یې چه دے رسول
نه دے، لیکن دا قیاس د دوی باطل دے بلکه رسولان د الله تعالٰی چه دي نو په
غیبي قوتونو سره د هغوی امداد کیږي او د نیوی زیب و زینت ته د هغوی حاجت نه وي۔
فائده:- فرعون په اوبو سره ځان له عزت حاصلوؤ نو الله تعالٰی د ده لره په اوبو سره
هلاک کړو اشاره ده چه چا بغیر د الله تعالٰی نه په بل څیز سره تعزز او مدد حاصلوؤ
نو الله تعالٰی به ده لره هغه سبب د هلاکت اوګرځوي۔ او دا رنګ فرعون موسٰی علیه السّلام
ته سپک کتل او د فقیرے او د عدم فصاحت عیبونه په هغه باندے ویل نو الله تعالٰی
هغه لره په فرعون باندے مسلّط کړو۔
۵۴:- فَاسْتَخَفَّ قَوْمَهٗ دا مخکښ دعوٰی د فرعون او سپکوالے د موسٰی علیه السّلام سبب
اوګرځیں د جهل د قوم فرعون د پاره او دغه جهل سبب شو د اطاعت د هغوی فرعون
لره فَاَطَاعُوْهُ او دغه خبرے د فرعون سبب د جهل د قوم په دے وجه سره اوګرځیدو
چه دوی پوره فاسق او نافرمان وو اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فَاسِقِيْنَ -
فائده:- طریقه د پیرانو او عالمانو باطل پرستو هم د فرعون پشان ده چه دوی خپل
مریدان شاګردان د علم د قرآن او سنّت او د تحقیق نه منع کوي د پاره د دے چه
جاهلان پاتے شي نو د دوی اطاعت به کوي ۔

آسَفُوْنَا انْتَقَمْنَا مِنْهُمْ فَاَغْرَقْنٰهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۵﴾

خفه کړو موږه بدله مو واخستله د دوی نه نو غرق کړل موږ دا ټول

فَجَعَلْنٰهُمْ سَلَفًا وَّمَثَلًا لِّلْاٰخِرِيْنَ ﴿۵۶﴾

نو اوګرځول موږ دوی تیر شوے نمونه او عبرت د پاره د روستنو.

وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا اِذَا قَوْمُكَ

او هرکله چه ذکر کړے شی ځوئے د مریم د مثال په طوریاندے دغه وخت ستا قوم

۵۵:۔ په دے ایت کښ د فرعونیانو عذاب ذکر کوی د پاره د تخویف د نورو منکرینو.
فَلَمَّآ اٰسَفُوْنَا اسف په معنیٰ د غضب دے او دا هم صفت د الله تعالیٰ دے خو مشابه
د مخلوق سره نه دے او اشاره ده غضب غیر دے د انتقام نه ځکه چه انتقام ئې روستو
ذکر کړے دے. د عمر بن ذر نه قرطبی نقل کړیدی هغه به ویل "اے ګناه
کوونکو خلقو د الله تعالیٰ په ډیر حلم باندے مه مغرور کیږئې بلکه د هغه د غضب
نه ویره کوئې او دا ایت ئې اولوستلو". او ابن جریج یو کرته غصه شو نو چا ورته
اُویل چه اے ابو خالده ته هم غصه کوے نو هغه اُویل "چه خالق د احلامو (جمع د حلم
ده صبر ته ویلے کیږی) هم غصه کیږی او دا ایت ئې اولوستلو".
۵۶:۔ سَلَفًا دا جمع د سالف ده لکه خدم جمع د خادم ده یا دا مصدر دے اطلاق ئې په
جماعت باندے هم کیږی او سلف مطلق متقدمینو ته ویلے کیږی که خیر دی او که
شر وی د دے وجې نه د مدح په وخت کښ د دے سره قید د صالح او صالحین لګیدلے
شی. او فرق په مینځ د سلف او مثل کښ یو څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده
چه سلف تیر شوے نمونه د عذاب او مثل واقعه د عبرت حاصلولو د پاره. دویمه
وجه سلف مقتدا د هغه چا د پاره ده چه علو او فساد کوونکی دی او مثل خبره عجیبه
شان والا دریمه وجه سلف د هغه چا د پاره چه د دوی پشان عمل ئې کړے دے
په زمانه د دوی کښ او مثل د هغه چا د پاره چه روستو د هغوی پشان عمل کوی.
څلورمه وجه سلف مخکښ تلونکی اور ته او مثل وعظ د پاره د روستنو خلقو.
پنځمه وجه بنی اسرائیل سلف شو په نجات موندلو کښ د صالحانو د پاره او فرعونیان
مثل شول د ناکاره خلقو د پاره. فَجَعَلْنٰهُمْ ضمیر دواړو ته په جمع سره راجع دے.

مِنْهُ يَصِدُّوْنَ ﴿۵۷﴾ وَقَالُوْٓا ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ

دَ دے دجے نه شور کوی ۔ او وائی آیا زمونږ معبودان غوره دی

اَمْ هُوَ ۗ مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا ۗ بَلْ هُمْ

یا دے ۔ نه ذکر کوی دوی تاته دا خبر مګر دَ ضد دَپاره بلکه دوی

قَوْمٌ خَصِمُوْنَ ﴿۵۸﴾ اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ اَنْعَمْنَا

قوم دے ۔ جګړه مار ۔ نه دے دے مګر یو بنده چه نعمت کړے دے مونږ

سے ۵۷ سے ۵۹ ۔ دا زجر دے او تمهید دے واقعے دَ عیسیٰ علیه السلام دَپاره ۔ دَ دے په ربط کښ دَ ما قبل سره دوه احتمالونه دی اول دا چه مخکښ جدال او عناد دَ فرعونیانو دَ موسیٰ علیه السلام په مقابله کښ ذکر کړے شو نو اوس ضد او عناد دَ مشرکین مکه ذکر کوی په مقابله دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کښ حاصل ئے دا دے چه نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر دَ احوالو دَ عیسیٰ علیه السّلام په وخت په کاوۀ دَ اثبات دَ توحید او دَ رد دَ مشرکینو دَپاره نو مشرکینو به شور کاوۀ چه دے هر وخت دَ عیسیٰ علیه السّلام ذکر مونږ ته کوی نو دَ دۀ مقصد دا دے چه زما ته اِله جوړ کړئ لکه چه نصاریٰ دَ عیسیٰ علیه السلام ته اله جوړ کړے وۀ نو معنیٰ دَ ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ چه زمونږ اِلهه غوره دی او که دَ محمد صلّی الله علیه وسلّم ! بلکه زمونږ الهه غوره دی ۔ دوییم احتمال دا دے چه دَ دے ربط دے ایت ۴۵ سره حاصل ئے دا دے چه هر کله اُوبلے چه دَ هیڅ رسول په دین کښ دَ مجعول اِله اجازت نیشته ۔ نو هر کله چه دوی په قران کښ دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر واؤریدلو نو دوی شور اوکړو چه ولے عیسیٰ علیه السّلام ته الوهیت نه وۀ ورکړے شوے ؟ او هر کله چه عیسیٰ علیه السّلام مجعول اِله دے نو زمونږ الِهه دَ دۀ نه غوره دی نو هغوی هم مجعول اِلهه دی نو معنیٰ دَ ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ زمونږ الهه غوره دی او که عیسیٰ علیه السّلام ! بلکه زمونږ الهه غوره دی ۔ دریم قول په دے ایت کښ دا دے چه سورة انبیاء کښ ذکر شوه چه یقیناً تاسو او ستاسو معبودان ماسوی الله به دَ جهنم خاشاک وی ۔ نو هر کله چه دَ عیسیٰ علیه السّلام په قران کښ ذکر راغے او رد اوکړے شو په نصاریٰ باندے نو مشرکینو دغه وخت کښ شور اوکړو چه په معبودان من دون الله کښ عیسیٰ علیه السلام داخل دے نو چه هغه جهنم ته داخلیږی نو زمونږ الِهه دِ ورته هم داخل شی هیڅ پرواه نیشته او مقصد

عَلَيْهِ وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿۵۹﴾

په هغه باندے او گرځولے دے مونږ هغه نمونه دَپاره دَ بنی اسرائیلو -

دَ دوی اعتراض کول وو په نبی صلی الله علیه وسلم باندے چه دے عیسٰی علیه السلام ته جهنمی وائی نو معنیٰ دَ ءَاٰلِهَتُنَا خَيْرٌ اَمْ هُوَ دا ده چه زمونږ الهه غوره دی او که عیسٰی علیه السلام لیکن عیسٰی علیه السلام خو غوره دے نو چه هغه اورته داخلیږی نو زمونږ الهه هم داخل شی - لیکن دَ دے قول دَ ماقبل سره ښکاره ربط نیشته سوا دَ دے نه چه دا هم زجر دے دَ مشرکینو په بے ځایه اعتراض او شور کولو ځکه چه سورة انبیاء کښ دَ بزرګانو (چه خلقو ترینه معبودان جوړ کړی دی) ذکر په ورپسے ایت کښ کړے شوے دے (ان الذین سبقت لهم منا الحسنٰی) نو دَ دوی اعتراض باطل دے بل دا ده چه سورة انبیاء او دَ دے سورت په نزول کښ ډیره زمانه فاصله ده نو دَ هغوی دَ سوال جواب ئے ولے دومره زمانه روستو کړے وو.
وَلَمَّا ضُرِبَ ابْنُ مَرْيَمَ مَثَلًا یعنی هر کله په قران کښ دَ مشرکانو په رد کښ عجز او عبدیت دَ عیسٰی علیه السلام په طریقه دَ مثال سره ذکر کړے شی -
مَا ضَرَبُوْهُ لَكَ اِلَّا جَدَلًا یعنی دے مشرکانو چه دَ معبود من دون الله دَپاره په طور دَ مثال سره دَ عیسٰی علیه السلام نوم ذکر کړے دے نو دا صرف دَ ضد او دَ عناد په طریقه دے ځکه چه دوی ښه پوهیږی چه هغه اِلٰه نه وو او په حدیث دَ ترمذی کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم او فرمائیل "هر کله چه یو قوم سره دَ علم نه بے لارے شی نو هغوی ته جدال ورکړے شی (یعنی په ضد او عناد کښ اخته شی) او دا ایت ئے تلاوت کړو"
س۵۹ :- روستو دَ زجر نه جواب دے دَ دوی جدال ته په ذکر دَ حقیقت حال دَ عیسٰی سره او په نفی دَ الوهیت سره دَ هغه ته - اِنْ هُوَ اِلَّا عَبْدٌ دا رد دے په نصارٰی او په هغه چاچه عیسٰی علیه السلام لره دَ الوهیت عقیده لری اَنْعَمْنَا عَلَيْهِ دا رد دے په یهودیانو او په هغه چاچه دَ عیسٰی علیه السلام دَ نبوت نه انکار کوی ځکه چه مراد دَ انعام نه نعمت دَ نبوت دے وَجَعَلْنٰهُ مَثَلًا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ دا رد دے دَ وهم دَ هغه چاچه دلیل نیسی دَ هغه دَ الوهیت دَپاره په پیدا ئښت دَ هغه بغیر دَ نارینه نه! حاصل دا چه دا دے پیدائښت دَ عیسٰی دَ بنی اسرائیلو دلیل او عبرت دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے - او هر کله چه بنی اسرائیل دَ هغه په وخت کښ موجود وو او دَ هغه دَ حال نه ښه خبر وو نو دَ دے وجے نه دَ هغوی تخصیص ئے اوکړو یا دَ مثل نه مراد دے نمونه (هغه خوک چه دَ هغه اقتداء لازم دی) -

وَلَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَا مِنْكُمْ مَّلٰٓئِكَةً فِي الْاَرْضِ

اوکه چیرے اوغواړو موږ نو پیدا به کړو ستاسو په بدله کښې ملائک په زمکه کښې

يَخْلُفُوْنَ ۝﴿۶۰﴾ وَاِنَّهٗ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ

چه ستاسو په ځائے به اوسیږی - او یقینًا (عیسٰی علیه السّلام) نخه د قیامت ده

فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُوْنِ ؕ هٰذَا صِرَاطٌ

نو شک مه کوئ په قیامت کښې او تابعداری اوکړئ زما دا لار

مُّسْتَقِيْمٌ ۝﴿۶۱﴾ وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ ۚ اِنَّهٗ

نیغه ده - او وانه روی تاسو لره شیطان یقینًا دے

سنلا۔ دا دویم رد دے په هغه چا چه دَ عیسٰی علیه السّلام دَ عجیب پیدائش نه دلیل نیسی دَ هغه په الوهیت باندے حاصل دا دے چه حال دَ عیسٰی علیه السّلام اګر چه عجیبه دے لیکن الله تعالٰی دَ دینه په زیات عجیبه باندے قدرت لری هغه دا چه ستاسو نه ملائک پیدا کړی یا ستاسو په بدل کښې ملائک په زمکه کښې آباد کړی لیکن دا مستلزم نه دے چه ملائک دِ الٰهه شی ځکه په دے عجیبه طریقو سره څوک دَ مخلوقیت او دَ عبدیت نه نه اوځی ۔مِنْكُمْ مِنْ په معنٰی دَ بدلیت دے یا بخپله معنٰی دَ دے یعنی په طریقه دَ تولید سره ۔

سنلا سلا ۔ په متعلق دَ عیسٰی علیه السلام بله فائده ذکر کوی چه دلالت کوی دَ عیسٰی علیه السّلام په عظمت باندے اِنَّهٗ ضمیر ابن مریم ته راجع دے او مراد تری نه نزول دَ هغه دے په وخت دَ خروج دَ دجّال کښې نزدے قیامت ته چه تفصیل دَ هغے په احادیث صحیحه کښې راغلے دے لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ یعنی نزول دَ عیسٰی علیه السّلام سبب دَ علم دَ قیامت دے یا عِلم په معنٰی دَ علامة دے ۔ او دَ اِنَّهٗ په ضمیر کښې دویم احتمال دا دے چه قرآن ته راجع دے یعنی نصوص دَ قرآن سبب دَ علم دَ قیامت دے لیکن په دے احتمال سره دَ کلام ربط نه راځی دَ ماقبل سره۔ وَاتَّبِعُوْنِ روستو دَ تفصیل دَ حال دَ عیسٰی علیه السّلام او دَ دفع کولو دَ شبهاتو نه امر دے په اتباع دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په تقدیر دَ (قل) سره او دَ دے مناسبت لطیفه دا دے چه عیسٰی علیه السلام روستو دَ نزول نه مکلف به وی په اتباع دَ محمد رسول الله صلّی الله علیه وسلّم سره - او هر کله چه په باره دَ عیسٰی علیه السلام او دَ اتباع دَ سنّت دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم کښې شیطان ډیر شبهات اچوی

لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿٦٢﴾ وَلَمَّا جَآءَ عِيْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ

تاسو لره دښمن ښکاره دے - او هرکله چه راغے عیسیٰ علیه السلام په ښکاره دلیلونو سره

قَالَ قَدْ جِئْتُكُمْ بِالْحِكْمَةِ وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ

اُوئیل هغه یقیناً راوړے دی ما تاسو ته د پوهے خبرے او د دے د پاره چه وضاحت اوکړم تاسو ته

بَعْضَ الَّذِىْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِۚ فَاتَّقُوا

د بعضے هغه خبرو چه تاسو اختلاف کوئ په هغے کښ نو ویریږئ

اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿٦٣﴾ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ رَبِّىْ

د الله تعالیٰ نه او تابعداری کوئ زما - یقیناً الله تعالیٰ هغه رب زما

نو تنبیه ئے ذکر کړه په دے قول سره وَلَا يَصُدَّنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ که شیطان جن اوکه انسی وی لکه چه په دے زمانه کښ قادیانان (شیطانان انسیه) په باره د حیاتِ عیسیٰ او نزولِ عیسیٰ کښ شبهات پیدا کوی لیکن د هغه شبهاتو د ازالے د پاره د قرآن عِلم ضروری دے او په اتبعونِ باندے عمل پکار دے.

سلا ۶۳ ۶۲ :. هرکله چه د عیسیٰ علیه السّلام عظمتِ د شان او صداقت بیان شو نو اوس د هغه د طرف نه دعوت د توحید ذکر کوی په طریقه د دلیل نقلی سره او رد په یهودیانو نصاریٰ او مشرکینِ عرب باندے بِالْبَيِّنٰتِ مراد ترینه معجزات او انجیل دے . بِالْحِكْمَةِ مراد ترینه نبوت دے یا علم د رسالت چه هغه احادیث د عیسیٰ علیه السّلام دی یا مصداق د حکمت دغه بینات دی چه مخکښ ئے ذکر کړل چه هغه محکم او مضبوط دی چه هیڅوک هم د هغے مقابله نشی کولے. وَلِاُبَيِّنَ لَكُمْ دا عطف دے په معنیٰ د بالحکمة باندے چه هغه لاظهار الحکمة دے بَعْضَ الَّذِىْ تَخْتَلِفُوْنَ فِيْهِ دا پشان د لاحل لكم بعض الذى حرم عليكم (سورة آلعمران ۵۰) دے مراد دا دے چه تورات کښ بعضِ احکام او بعضِ محرمات وُو نو د انجیل په راتللو سره هغه منسوخ شول او په هغے کښ تخفیف اوراسانتیا وه په بنی اسرائیلو باندے - یا د دے مراد نه تحریفات د تورات دی او بعض په معنیٰ د کل سره دے یا مراد ترینه هغه مسائل دی چه احبارو د یهودو د ځان نه جوړ کړے وو نو بیا هم بعض په معنیٰ د کل سره دے یا مراد ترینه هغه مسائل د دین دی چه احبارو په هغے کښ اختلاف جوړ کړے وُو د هغے وضاحت عیسیٰ علیه السّلام اوکړو او اختلافاتِ دنیویه ئے نه دی بیان کړی (پاکے په بل مخ)

وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ ۚ هَٰذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ﴿٦٤﴾

او رب ستاسو دے نو بندگي دَ هغه خاص کړئ دا لار نیغه ده ۔

فَاخْتَلَفَ الْأَحْزَابُ مِن بَيْنِهِمْ ۖ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ

نو مختلف شول ډلے په مینځ خپل کښ نو تباهي ده

ظَلَمُوا مِنْ عَذَابِ يَوْمٍ أَلِيمٍ ﴿٦٥﴾ هَلْ يَنظُرُونَ

ظالمانو لره دَ عذاب دَ ورځے دردناکے نه ۔ انتظار نه کوی دوی

تو بعض په خپله معنیٰ باندے دے ۔ اولویه مسئله اختلافیه په دوی کښ توحید ده دَ دے وجے نه دَ هغے وضاحت ئے اوکړو په فاتقوا الله، وان الله ربی الخ سره ۔ او دا جمله تیره شویده په سورة آل عمران سلھ او سورة مریم ۳۶ کښ ۔

فائده :- سورة آل عمران او په دے سورت کښ فاتقوا الله ذکر دے ستو إن الله دَ هغے علت دے دَ دے وجے واؤ ئے په اول کښ ذکر نه کړو او په سورة مریم کښ په ماقبل کلام باندے عطف دے دَ دے وجے نه حرف واو ئے ذکر کړے دے ۔ بیا په دے آیاتونو کښ دَ عیسیٰ علیه السّلام په باره کښ ډیر شبهات د دفع کول مقصد وو نو دا رنگ دَ دفع دَ شبهے دَ پاره إن الله هو ربی په لفظ دَ هُوَ (چه دَ حصر او دَ تاکید دَ پاره دے) ذکر کړو ۔

سلھ :- دا جواب دَ سوال دے سوال دا دے چه دَ عیسیٰ علیه السّلام دین که چرے توحید وے نو روستو خلقو ولے دَ هغے مخالفت اوکړو حاصل دَ جواب دا دے چه روستو دَ رفع دَ عیسیٰ علیه السلام نه په دوی کښ ډلے پیدا شوے او تحزب او تعصب کښ را غلل نو دا سبب دَ اختلاف شو لکه چه سورة مریم ۳۷ کښ تیر شویدی او بیا دے اختلاف جوړوونکو دَ پاره ئے تخویف ذکر کړے دے ۔ هر کله چه په دے آیاتونو مخکښنو کښ دَ شبهاتو ازاله کړے ده او سره دَ دے نه دے خلقو اختلاف جوړ کړو نو دا ظلم دے او په سورة مریم کښ صرف دعوة دَ عیسیٰ علیه السّلام ذکر کړو او مخالفینو دَ هغے انکار کړے دے نو هغه کفر دے په دے وجه په دے سورت کښ الذین ظلموا او په سورة مریم کښ الذین کفروا ذکر کړے دے ۔

إِلَّا السَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ

مګر دَ قیامت چه راشي دوی ته ناګهه او دوی به

لَا يَشْعُرُونَ ﴿٦٦﴾ الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ

نه پوهیږي - دوستان به په دغه ورځ بعض دَ دوی

لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ ﴿٦٧﴾ يَا عِبَادِ

دَ بعضو دَپاره دشمنان شي مګر متقیان - (او به ویلې شي دوی ته) اے بندګانو زما

لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٦٨﴾

نیشته ویره په تاسو باندے نن ورځ او نه به تاسو غمژن کیږئ۔

ش۶۶ ۔ داهم تخویف اخروی دے اختلاف کوونکو دَپاره ۔ بَغْتَةً مراد دَ دے نه دا دے چه وخت او تاریخ دَ هغې په معلوم نه وی وهم لا یشعرون عطف دے په معنیٰ دَ هل ینظرون باندے ۔ یا تاکید دَ بغتةً دے یعنی دوی به غافل وی په وخت دَ راتللو دَ قیامت کښ ۔

ش۶۷ ۔ دَ دے ایت نه تر اخر دَ سورت پورے دریم باب دے ۔ په دے کښ بشارت تفصیلیه بیا تخویف تفصیلی سره دَ سبب عذاب نه ذکر کوی ۔ بیا زجرونه دی او تفصیل دَ توحید دے سره دَ دلیلونو نه ۔ نفی دَ ولد ، نفی دَ شرک فی الالوهیة ، نفی دَ شرک فی البرکات ، نفی دَ شفاعتِ قهریه ده او په اخرکښ تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او امر دے په براءة سره دَ مشرکانو نه۔ په دے (ش۶۷) کښ دَ مشرکانو او دَ مؤحدینو دَ دوستانے دنیوی عاقبت ذکر کوی چه دَ مشرکانو دَ دوستانے عاقبت به په اخرت کښ دشمنی وی او دَ یو بل نه به براءت کوی چه هغه په مختلف سورتونو کښ ذکر کړے شویده لکه سورة اعراف، بقره، ابراهیم، سبا، ص، قصص (براءت دَ تابعینو او متبوعینو) او دَ دے ایت نه تر ش۷۳ پورے بشارت مشتمل دے په دولس امورو باندے او ورسره سبب دَ بشارت هم ذکر دے نو په دے ایت کښ دَ متقینو دَ دوستانے دوام ذکر کوی او دا اول بشارت دے ۔

ش۶۸ ۔ په دے کښ دویم او دریم بشارت ذکر دے عدم خوف او عدم حزن، دَ یا عباد نه مخکښ یَقُوْلُ اللهُ پټ دے یعنی الله تعالیٰ به اواز اوکړی په ورځ دَ قیامت تو خلق به سرونه اوچت کړی چه مونږ عباد الله یو نو الله تعالیٰ به اُوائی الذین امنوا ۔

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاٰيٰتِنَا وَكَانُوْا مُسْلِمِيْنَ ﴿۶۹﴾

هغه کسان چه ایمان ئې راوړے وه په ایاتونو زمونږ او وو دوی مسلمانان

اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ اَنْتُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ

داخل شئ جنت ته تاسو او جوړې ستاسو

تُحْبَرُوْنَ ﴿۷۰﴾ يُطَافُ عَلَيْهِمْ بِصِحَافٍ مِّنْ

نعمتونه به درکیدے شی ـ گرځولے به شی په دوی پاندے کاسے د

ذَهَبٍ وَّاَكْوَابٍ ۚ وَفِيْهَا مَا تَشْتَهِيْهِ

سرو زرو او کلاسونه او په هغے کښ هغه څیزونه دی چه غواړی ئې دوی

الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعْيُنُ ۚ وَاَنْتُمْ فِيْهَا

نفسونه او مزه پرے اخلی سترگے او تاسو به په هغے کښ

خٰلِدُوْنَ ﴿۷۱﴾ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ اُوْرِثْتُمُوْهَا

همیشه یئ ـ او دا هغه جنت دے چه درکړے شو تاسو ته

۶۹: په دے ایت کښ دوه سببونه د بشارت ذکر کوی اول ایمان بالآیات او دویم اسلام یعنی پوره انقیاد ظاهری او باطنی۔

۷۰: دا جواب د نداء دے (یا عباد) او په دے کښ نور درے بشارتونه ذکر کوی دخول جنت سره د ازواجو نه او تحبیر۔ مراد د ازواجو نه هغه بیبیانے دی چه د خاوندانو سره ئې په توحید او سنت کښ موافقت کړے دے ۔ حبرة په اصل کښ مبالغه ده په اکرام په ډیر ښائسته طریقے سره نو په معنی د کرامت او د فرح (خوشحالی) او ډیر نعمتونه او مزه اخستل په غنا سره په جنت کښ، دے ټولو ته تحبرون شامل دے۔

۷۱: په دے ایت کښ نور پنځه بشارتونه دی ۔ يُطَافُ عَلَيْهِمْ د خوراک او څکاک د پاره دا لوښی دی صحاف د خوراک د پاره او اکواب د څکاک د پاره دی ۔ صحاف جمع د صحفة ده او صحفه هغه لوښے دے چه په اصطلاح د عربو کښ په هغے کښ پنځه کسان مړیږی۔ وَاَكْوَابٍ جمع د کوب ده هغه گلاسونه دی چه کړئ د نیولو او سنت ئې نه وی او د دے سره هم مِنْ ذَهَبٍ مراد دے یعنی دا دواړه قسمه لوښی به د سرو زرو وی۔ اهل جنت کښ مختلف قسمونه دی د چا لوښی به د سرو زرو وی او د چا به د سپینو زرو وی لکه

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷۲﴾ لَكُمْ فِيْهَا فَاكِهَةٌ

په وجه د هغه عملونو چه تاسو کول ۔ تاسو لره په هغې کښې میوې

كَثِيْرَةٌ مِّنْهَا تَأْكُلُوْنَ ﴿۷۳﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ

ډیرې دي بعض د هغې نه تاسو خورئ ۔ یقینًا مجرمان به

فِيْ عَذَابِ جَهَنَّمَ خٰلِدُوْنَ ﴿۷۴﴾ لَا يُفَتَّرُ

په عذاب د جهنم کښې همیشه دي ۔ نه به ئې کمیدلے

سورة دهر سـ۵ کښې ۔ وَ فِيْهَا دا ضمير جنت ته راجع دے نو عام نعمتونه ترے مراد دي يا دغه لوښو ته راجع دے نو خوراک څکاک اقسام ترینه مراد دي۔

مَا تَشْتَهِيْهِ الْأَنْفُسُ مشتهيات د نفس عام دي که د جنس د ملموساتو نه وي او که د مذوقاتو نه وي او که د مسموعاتو نه وي او که د مشموماتو نه وي او که د معقولاتو نه وي، وَ تَلَذُّ الْأَعْيُنُ دا صرف مبصراتو ته شامل دے او دا هر کله چه د سیل او تفریح سره تعلق لري او په دے کښې لوئے خیز دیدار د الله تعالىٰ دے نو دائې د دے وج نه جدا ذکر کړو۔ نيشاپوري د قفال نه روايت کړے دے چه په دے دواړه جملو کښې الله تعالىٰ هغه نعمتونه جمع کړے دي که ټول مخلوق د هغې په تفصيلاتو باندې شورو شي نو پوره کولے نشي۔

سـ۷۲: په دے ایت کښې ئې سبب د حصول د جنت ذکر کړے دے لکه چه سورة اعراف سـ۴۳ کښې تير شوے دے ۔ أُوْرِثْتُمُوْهَا ميراث ئې په دے وجه سره اُوبلي چه ميراث بے تکلیفه حاصليږي نو دا سے د جنت د پاره چه کم عمل مؤمنانو کړے دے هغه په حقیقت کښې د جنت د نعمتونو نه ډیر کم دے گویا چه جنت هم بے تکلیفه حاصل شوے دے ۔ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ استحقاق د جنت په رحم د الله تعالىٰ سره دے لکه چه حديث کښې راغلي دي او درجات د جنت په عمل سره حاصليږي نو دلته ئې عمل سبب اوګرځوو یا دا چه لوئے عمل ایمان او توحید دے او حدیث کښې چه رحمت ذکر دے هغه هم په معنیٰ د استقامت علی التوحید دے نو ایت او حدیث موافق دي ۔

سـ۷۳: په دے کښې اخري بشارت ذکر کوي چه د خوراک څکاک نه روستو فواکه (میوې) دي ۔ كَثِيْرَةٌ ډير اقسام او ډير افراد ئې دي چه نه ختميږي ۔ مِنْهَا مِن ئې تبعيضيه

سـ۷۴ سـ۷۵ سـ۷۶ : دا تخويف اخروي دے او په مقابل د بشارت کښې دے ۔ ربانے په بل مخ)

عَنۡهُمۡ وَهُمۡ فِيۡهِ مُبۡلِسُوۡنَ ﴿۷۵﴾ وَمَا ظَلَمۡنٰهُمۡ

دَ دوی نه او دوی به په هغه کښې نا امیداه وی - او ظلم نه دے کړے موږ په دوی باندې

وَلٰكِنۡ كَانُوۡا هُمُ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۷۶﴾ وَنَادَوۡا يٰمٰلِكُ

لیکن وو دوی ظالمان - او آواز به اوکړی دوی اے مالکه

لِيَقۡضِ عَلَيۡنَا رَبُّكَ ؕ قَالَ اِنَّكُمۡ

فیصله دې اوکړی په موږ باندے ستا رب او به وائی یقینًا تاسو به

مّٰكِثُوۡنَ ﴿۷۷﴾ لَقَدۡ جِئۡنٰكُمۡ بِالۡحَقِّ وَلٰكِنَّ

ایسار یئ - یقینًا راوړے دے موږ تاسو ته حق لیکن

اَكۡثَرَكُمۡ لِلۡحَقِّ كٰرِهُوۡنَ ﴿۷۸﴾ اَمۡ اَبۡرَمُوۡۤا

ډیر ستاسو نه حق لره به کرکه کړی - آیا بلکه کړے موږ

خو تخویف ئې په نصف دَ بشارت ذکر کړے دے یعنی په شپږ طریقو سره.
اوّل ایت کښې دوه تخویفونه دویم ایت کښې هم دوه دی او په دریم ایت کښې سبب دَ عذاب ذکر کړو چه هغه ظلم (شرک وکفر) دے. لَا یُفَتَّرُ عَنۡهُمۡ تفتّر دیته ویلے کیږی
چه اراده اوکړے شی دَ کمزورے کولو او فتور عام کمزورئې ته ویلے کیږی یعنی کمزور عذاب هم نه دے لیکن الله تعالیٰ به اراده هم نه کوی دَ هغے دَ کمزورے کولو. او بیضاوی ویلی دی چه تفتر او فتور لپ ضعف ته ویلے کیږی یعنی دا عذاب به لږ هم نه کمزورے کیږی.
۷۷: په دے کښې دوه تخویفونه ذکر کوی. فریادونه کول مالک ته دَ پاره دَ مرګ غوښتلو او جواب په ماکثون سره، مَالِكُ دَ جهنم خازن ملک دَ پاره نوم دے. دَ محمد بن کعب قرظی نه نقل دے چه دوی به اوّل آواز ټولو خازنانو دَ جهنم ملا ئکو ته اوکړی لکه چه سورة غافر ۴۹ کښې تیر شویدی نو چه دَ هغوی نه نا امیداه شی نو بیا به مالک ته آواز اوکړی. او په حدیث دَ ترمذی کښې راغلی دی چه زر کاله روستو به جواب ورکړی اِنَّكُمۡ مّٰكِثُوۡنَ او مراد دَ مکث نه همیشه اوسیدل دی لکه چه په باره دَ جنّت کښې سورة کهف ۳ کښې تیر شوے دی.
۷۸: په دے کښې ذکر دے سبب دَ عذاب. او په دے خطاب کښې دوه احتمالونه دی اول دا چه دا دَ مالک دَ طرف نه خطاب دے دویم دا چه دا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه

أَمْ أَبْرَمُوٓا أَمْرًا فَإِنَّا مُبْرِمُونَ ﴿٧٩﴾ أَمْ يَحْسَبُونَ أَنَّا

آيا دوی چه مونږ ... ګمان کوی ... يو خبره نو يقيناً مونږ هم کلکوونکي يو -

لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُم ۚ بَلَىٰ وَرُسُلُنَا

چه مونږ نه اورو ... پټې خبرې د دوی او جرګې د دوی ... هاں (ولے نه) او ملائک زمونږ

لَدَيْهِمْ يَكْتُبُونَ ﴿٨٠﴾ قُلْ إِن كَانَ

د دوی سره دی چه ليکل کوی - ... ته اوايه که چرے وی

لِلرَّحْمَٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا أَوَّلُ الْعَابِدِينَ ﴿٨١﴾

د رحمان د پاره ولد ... نو زه به ووم اول بندګی کوونکے د هغه -

خطاب دے - اکثرکم (رسول) دوی خو ټولو د حق نه نفرت کړے دے نو اکثر ئې ولے اُویل ؟ جواب دا دے چه مراد د اکثر نه د دوی مشران دی هغوی د حق نه نفرت کاوو او نورو د هغوی تقليد کاوو او د حقيقت نه خبر نه وو -

س۷۹ س۸۰ ،، په دے اياتو کښ زجر دے - اَمْ اَبْرَمُوٓا متعلق دے کارهونو سره يعنی صرف د حق په نه منلو باندے اکتفاء نه کوی بلکه د حق په مقابله کښ تدبيرونه او چلونه جوړوی د نبی صلی الله عليه وسلم د قتل او د توحيد د ختمولو د پاره - اَبْرَام کلکه او قطعی فيصله کولو ته وئيلے کيږی نو هغه دا سے تدبيروی چه په ګنړه سره ئې اوکړی - فَاِنَّا مُبْرِمُوْنَ دا سے په سورة طور س۴۲ کښ راغلی - او هرکله چه دوی د شمنی د حق سره په زړه کښ پټه ساتی بيا د هغې د پاره د ملګرو سره جرګے کوی نو په هغې باندے زجر وړکوی په دے لفظ د اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰهُمْ سره نو د دے ګمان ترديد ئې اوکړو په بَلٰی سره بيا د زيات تاکيد د پاره ئې ليکل د ملائکو ذکر کړل د دے د پاره چه دا خلق بيا انکار نه شی کولے د يحيٰی بن معاذ رضی الله عنه نه نقل دے "چه څوک د خلقو نه ګناهونه پټ ساتی او هغه ذات ته ئې ښکاره کوی چه د هغه نه هيڅ څيز په اسمانو کښ پټ نه دے نو دا ئې د الله تعالیٰ ډيره بے عزتی اوکړه او دا د علاماتو د منافقت نه دہ"۔

س۸۱ ،، په دے ايت کښ رد د عقيدے د ولد دے د الله تعالیٰ د پاره د سورة د اول س۱۵ سره تعلق لری يا د س۴۵ سره متعلق دے يعنی که مشرکان اُوائی چه مجعول اِلٰه نيشته ليکن ولد د الله تعالیٰ شته نو عبادت د هغه جائز شو نو په دے ايت کښ د هغې رد دے - په دے ايت کښ ډير احتمالات دی رايانے په يل مخ)

سُبْحٰنَ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ رَبِّ الْعَرْشِ

پاک دے رب دَ اسمانونو او دَ زمکے رب دَ عرش

عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَذَرْهُمْ يَخُوْضُوْا وَيَلْعَبُوْا

دَ هغه خبرونه چه دوی بیانوی (دَ هغه په باره کښ) - تو پریږده دوی چه ننوځی په باطلو خبرو کښ او لوبے کوی

اول دا چه إن شرطيه دے دويم دا چه إن نافيه دے په اول احتمال باندے فَأَنَا اول جزا ده او په دويم باندے تفريع ده په نفی دَ ولد باندے - او دا رنګ عَابِدِيْنَ کښ اول احتمال دا دے چه په معنیٰ دَ عبادت کوونکے دے بيا په دے کښ دوه احتمالونه دی يو دا چه عبادت کوونکے دَ ولد او دويم دا چه عبادت کوونکے دَ الله تعالیٰ. دويم احتمال دا دے چه عابد دَ عَبِدَ نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ نفرت کولو او انکار کوولو. او هر کله چه ان شرطيه شی او شرط او جزا وی نو بيا معنیٰ دا ده که چيرے بالفرض دَ رحمان دَ پاره ولد وی نو زه به اول عبادت کوونکے دَ دغه ولد وے وجه دَ ملازمے دا ده چه تعظيم دَ ولد دَ رحمان فرض دے پشان دَ تعظيم دَ رحمان. او دَ فرض په ادا کولو کښ خو زه ستاسو نه مخکښ يم ځکه دَ الله تعالیٰ مقرب رسول يم - ليکن تالی باطل دے يعنی زه خو دَ الله تعالیٰ نه سوا دَ بل چا عبادت نه کووم نو معلومه شوه چه مقدم باطل دے يعنی ولد دَ الله تعالیٰ نيشته. نو هغه قضيه شرطيه ده چه جزاء ئے ان محال وی ليکن ملازمه پکښ ښکاره ده لکه چه يو څوک ته اشاره اوکړے شی او اُووئيلے شی که چرے دا انسان وی نو ناطق به وی ليکن ناطق نه دے نو انسان هم نه دے ليکن ملازمه خو ريښتنے ده چه انسان وی نو ناطق به ضروری وی - او دويمه معنیٰ دا ده که چرے دَ رحمان ولد وی نو زهٔ به هم دَ رحمان عبادت کووم او دَ ولد ئے نه کوم وجه دَ ملازمے دا ده چه زه عبادت په امر دَ الله تعالیٰ سره کووم او الله تعالیٰ مونږ ته دلته امر نه دے کړے چه فلانے زما ولد دے او دَ دهٔ عبادت به کوئے.

۸۲:. دا هم ترديد دے په اتخاذ الولد باندے په بله طريقے سره هغه دا دے چه دَ صفت دَ ربوبيت دَ عالمينو او اتخاذ ولد په مينځ کښ تضاد دے ځکه ولد که حقيقتًا شی نو مستلزم دے احتياج لره او رب العالمين محتاج نشی کيدے او درے اطراف دَ عالم ئے ذکر کړے دی عرش چه اوچت دے او زمکه چه کوزه ده او اسمانونه چه په مينځ کښ دی يعنی الله تعالیٰ په هيڅ جزء دَ دُنيا کښ ولد (نائب ته) محتاج نه دے -

حَتّٰی یُلٰقُوۡا یَوۡمَهُمُ الَّذِیۡ یُوۡعَدُوۡنَ ﴿۸۳﴾

تر هغه پورے چه مخامخ به شی دغه ورځ د دوی سره چه دوی سره ئی وعده کیدیشی -

وَ هُوَ الَّذِیۡ فِی السَّمَآءِ اِلٰهٌ وَّ فِی الۡاَرۡضِ

او الله تعالیٰ هغه دے چه په آسمان کښ واکدارؔ دے او په زمکه کښ

اِلٰهٌ ؕ وَ هُوَ الۡحَکِیۡمُ الۡعَلِیۡمُ ﴿۸۴﴾ وَ تَبٰرَکَ الَّذِیۡ

واکدار دے او هغه حکمتونو والا دے پوهه دے په هرڅیز - او برکتونو والا دے هغه ذات

لَهٗ مُلۡکُ السَّمٰوٰتِ وَ الۡاَرۡضِ وَ مَا بَیۡنَهُمَا ۚ

چه د هغه په اختیار کښ بادشاهي د آسمانونو او د زمکے او د مینځ د دے دواړو ده

وَ عِنۡدَهٗ عِلۡمُ السَّاعَةِ ۚ وَ اِلَیۡهِ تُرۡجَعُوۡنَ ﴿۸۵﴾

او خاص د هغه سره علم د قیامت دے او خاص هغه ته به او کرځولے شئ تاسو -

سـ۸۳ :- روستو د ذکر د دلیلونو نه زجر دے اعراض کوؤنکو ته چه هغوی مشغول
دی په شبهاتو کښ او دے ته خوض ویلے کیږی یا مشغول دی په شهواتو کښ چه
هغه ته لعب ویلے کیږی -

سـ۸۴ :- داهم رد دے په عقیده د اتخاذ الولد باندے او رد د وهم دے وهم دا وؤ اگرچه الله تعالیٰ
رب د عالم دے لیکن امکان شته چه په الوهیت کښ څل چا له حصه ورکړیوی نو هغه
ولد یا شریک د الله تعالیٰ به وی نو جواب اوشو په طریقه د رد د شرک فی الالوهیة
سره یعنی لکه چه شریک فی الربوبیة نه لری نو شریک فی الالوهیة هم نه لری.
اِلٰهٌ په معنی د حقدار د بندګے او هغه ذات چه د هغه بندګی په حقه سره کیدے شی
هم په آسمانونو کښ او هم په زمکه کښ.

سـ۸۵ :- دا رد دے په شرک فی البرکات باندے او دفع د یل وهم ده وهم دا دے چه
واقعی الله تعالیٰ رب دے الٰه دے لیکن کیدے شی چه د بعض برکاتو او منافعو پیدا
کولو اختیار او قدرت ئے یل چا ته سپارلے وی نو هغه به ولد یا شریک شی حاصل
د جواب دا دے چه بادشاهي د آسمانونو او زمکے او علم د قیامت دے چه په قیامت کښ
به وی او رجوع د ټولو فیصلو الله تعالیٰ ته دا ټول د الله د پاره دی نو معلومه شوه چه
برکات پیدا کوؤنکے او ورکوؤنکے هم الله تعالیٰ دے - تفصیل د تبارک په سورة اعراف
سـ۵۴ او مومنون سـ۱۴ او فرقان سـ۱ سـ۱۰ سـ۶۱ غافر سـ۶۴ کښ تیر شویدے (ریاکے په یل مخ)

وَلَا يَمْلِكُ الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِهِ

او وَس نه لری هغه کسان چه دوی ورته رامدد شه دائی سوا د الله تعالیٰ نه

الشَّفَاعَةَ إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿۸۶﴾

دَ سفارش کولو مگر هغه څوک چه اقرار ئې کړے وی دَ حق او هغوی علم لری -

وَعِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ هرکله چه علم په هغه پورے خاص دے تو لازمه خبره ده چه قدرت
په هغې باندے هم په الله تعالیٰ پورے خاص دے۔
۵۸.، دا جواب دے دَ مشهورے شبهې هغه دا ده چه مشرکان وائی چه مونږ خپلو
معبوداتو ته الِهه نه وایو رب او خالقان ورته نه وایو صرف دا چه زمونږ دَ دُنیا
حاجتونه په الله تعالیٰ باندے پوره کوی او آخرت کښ به هم مونږه دَ الله تعالیٰ
دَ عذاب نه بچ کوی ځکه چه دوی دَ الله تعالیٰ محبوبان او مخور یز خلق دی الله تعالیٰ
مجبوراً دَ دوی خبره منی جواب اوشو په رد دَ دے عقیدے سره لیکن په دے آیت
کښ رد دَ شفاعت دَ آخرت دے مشرکانو لره یا رد دَ شفاعت دے په آخرت کښ
دَ هغه معبوداتو نه چه عقیده دَ توحید پکښ نه وی یعنی مشرکان پیران وی۔
بیا په دے آیت کښ احتمالات دی په الَّذِينَ يَدْعُونَ کښ دوه احتمالونه دی اول
دا دے چه مراد دَ دے نه معبودان من دون الله دی نو ضمیر دَ یدعون مشرکانو
ته راجع دے او هم ضمیر پکښ پټ دے الذین ته راجع دے۔ دویم احتمال
دا دے چه مراد دَ دوی نه مشرکان دی او مفعول دَ یدعون پټ دے یعنی یدعون
الِهة من دون الله۔ په اول احتمال باندے دَ لا یملك معنیٰ وس او اختیار نه لری
معبودان دَ شفاعت کولو او په دویم احتمال باندے معنیٰ دَ لا یملك وَس نه لری
مشرکان دَ حصول دَ شفاعت دَ چل ځانونو دَ پاره۔ إِلَّا مَن شَهِدَ بِالْحَقِّ په إِلَّا کښ
هم دوه احتمالونه دی اول دا چه استثناء متصله ده کله چه الذین یدعون
کښ ملائک او عیسیٰ او عزیر علیهم السلام او اولیاء داخل دی نو په إِلَّا سره
په هغوی تر ینه مستثنیٰ شی۔ دویم دا چه إِلَّا استثناء منقطع ده کله چه دَ
الذین یدعون نه مراد صرف ناکاره معبودان دی یعنی مشرکان پیران۔ او
په مَن شَهِدَ کښ هم دوه احتمالونه دی اول دا چه مراد په دے سره شفیع دے
او روستو دواړه صفتونه دَ شفیع دی دویم دا چه مراد دَ دے نه مشفوع له دے
په تقدیر دَ مستثنیٰ منه مفرغ سره او لام دَ حرف مَن سره مقدر دے یعنی الشفاعة
لاحد الالمن شهد او روستو دواړه صفتونه دَ مشفوع له دی۔ وَهُمْ يَعْلَمُونَ کښ

وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ

او که چیرې تپوس اوکړې ته د دوی نه چه چا پیدا کړیدی (د اشفعاء) خامخا دوی به اوائي

اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾ وَقِيلِهِ يَا رَبِّ إِنَّ

الله تعالی نو څه رنګ اوړولے کیږی دوی د توحید نه او قسم دے په وینا د دهٔ چه اے ربه یقیناً

هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ لَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ فَاصْفَحْ

دا دلته قوم دے چه ایمان نه راوړی - نو مخ واړوه

هم دوه احتمالونه دی اوّل دا چه دَ شهادت بالحق دَ ټبے سره عقیده قلبیه هم شرط ده یعنی یعلمون الحق. دویم احتمال دا دے چه علم لری په حال دَ مشفوع له چه دے مؤمن دے او که نه دے یعنی شفیع مؤحد به هله شفاعت کوی بل چا لره چه ورته معلومه شی چه دغه انسان مؤحد دے او دا علم په دنیا کښ نه حاصلیږی او اخرت کښ هم هله حاصلیږی چه دَ مؤمنانو نخے مقرر شی (سپین اندامونه او مخونه) او یا الله تعالی ورته خبر ورکړی چه دا مؤحد دے دَ دهٔ دپاره شفاعت اوکړه - دا ټول لس احتمالات دی او مفسرینو نقل کړیدی لیکن په ټولو کښ راجح معنی دا ده چه اختیار نه لری هیڅ معبود من دون الله دَ شفاعت کولو مګر هغه معبود (من دون الله) چه شهادت دَ توحید ئے په دنیا کښ کړے دے سرهٔ دَ علم دَ توحید نه یا سرهٔ دَ علم نه په حال دَ مؤحد یا ندے - وَهُمْ يَعْلَمُونَ قرطبی دَ دے په تفسیر کښ لیکلی دی چه شهادت بالحق فائده نه ورکوی مګر سرهٔ دَ علم نه او تقلید فائده نه ورکوی کله چه سړے علم نه لری په دلیل دَ خبرے باندے.

۸۷:. دا دلیل عقلی دے او په دے کښ هم رد دے په شفاعة قهریه باندے یعنی ستاسو شفعاء خو ستاسو په اقرار سره هم مخلوق دی نو مخلوق څه رنګه شفیع قهری کیږئے؟ مَنْ خَلَقَهُمْ ضمیر دَ هم معبودانو ته راجع دے یا عابدانو او معبودانو دواړو ته راجع دے.

۸۸:. په دے ایت کښ زجر دے. وَقِيلِهِ واو قسمیه دے او قیل په معنی دَ قول سره دے او ضمیر راجع دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او يَا رَبِّ دا مقوله دَ قول ده تر اخره پورے او جواب قسم پټ دے (ان هؤلاء لمعاندون) حاصل دا دے چه دا نبی وخت په دربار دَ الله تعالی کښ دَ دے منکرینو نه شکایت پیش کوی په دا سے الفاظو سره چه یا رب ان هؤلاء اه نو په دے قول (پاتے په یل مخ)

عَنْهُمْ وَقُلْ سَلٰمٌ ۭ فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ ﴿۸۹﴾

دَ دوی نه او اوایه سلام دَ جُدائی نو زر ده چه دوی به پوهه شی -

بالنده قسم دے په طور دَ شهادت سره چه یقیناً دوی عنادیان دی یا دَ قیله دَ پاره مقوله صرف یارب دے یعنی دا پیغمبر چه وائی یارب (ان قومی اتخذوا هذا القرآن مهجوراً فرقان ۳۰) اوجواب قسم ان هؤلاء قوم لایؤمنون دے - اوایت کښ دریمه توجیه داده چه وقیله عطف دے په علم الساعة باندے یعنی وَعِنْدَهٗ عِلْمُ قِيْلِهٖ او مقوله دَ قوله یارب اه دے لیکن دَ معطوف علیه او دَ معطوف په میخ کښ ډیره فاصله ده نو دا توجیه مناسب نه ده -

۸۹ ،، دا تفریع ده په عناد دَ منکریتو باندے اوحکم دَ معاندینو دے چه هغه براءت اوقطع تعلق دے - فَاصْفَحْ مراد دَ صفح نه اعراض کول دی دَ دوی دَ محبت او دوستانے نه یا دَ دوی دَ سب وشتم نه او دا معنیٰ منسوخ نه ده بلکه دا اخلاق دَ مبلغ په وخت دَ دعوت کښ ضروری دی - وَقُلْ سَلٰمٌ دے نه سلام تودیع او متارکه و یلے کیږی سلام تحیه نه دے ځکه چه مشرکانو باندے سلام تحیه جائز نه دے. نو معنیٰ داده یعنی زما او ستاسو جدائی ده په سلامتیا سره چه زه تاسو ته کنځل نکوم او بداخلاقی نه کوؤم او هم داسے سلام دَ ابراهیم علیه السلام وُخپل پلار ته لکه سورة مریم ۴۷ - فَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ کښ عذاب ته اشاره ده که دنیوی عذاب وی او که اخروی عذاب وی -

تفسیر دَ سورة زخرف ختم شو په فضل وکرم دَ الله تعالیٰ سره



سُوْرَةُ الدُّخَانِ ۴۴ مَكِّيَّةٌ ۴۴ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۵۹ رُكُوْعَاتُهَا ۳

حٰمٓ ﴿۱﴾ وَالْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿۲﴾ اِنَّآ اَنْزَلْنٰهُ

الله تعالی پوهه دے په مراد به دے۔ قسم دے په کتاب ښکاره بیان کوونکی باندے (چه ګواه دے په دے خبره) چه نازل کړے دے مونږ دا قرآن

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الدخان

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ رد وُو په دلیلونو دَ مشرکانو باندے نو په دے سورت کښ ویره دَ عذاب دنیوی ذکر کوی. دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ ذکر دَ کباحت دَ معرضینو دَ قرآن وُو نو په دے سورت کښ عظمت دَ قرآن او مقصد دَ قرآن ذکر کوی. دریمه وجه دا ده په هغه سورت کښ تکبر دَ فرعون په موسیٰ علیه السّلام باندے ذکر کړے وُو اوس په دے سورت کښ کرامت دَ موسیٰ علیه السّلام او کښتی اسرائیلو ذکر کوی. څلورمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ اثبات دَ توحید وُو په عقلی دلیلونو سره نو په دے سورت کښ اثبات دَ توحید دے په ذکر دَ اسماء او صفاتو دَ الله تعالیٰ سره او هغه یئ نهه ذکر کړے دی.

دعویٰ دَ سورت دا ده، تخویف دنیوی منکرینو او معرضینو دَ قرآن ته دے په ۱۶ او ۵۹ کښ او ذکر دَ عظمت دَ قرآن او ذکر دَ عظمت دَ الله تعالیٰ په اسماء او صفاتو دَ هغه سره.

خلاصه دَ سورت. په دے سورت کښ دوه بابونه دی اول باب تر ۴۲ پورے دے په دے کښ صداقت دَ قرآن او ذکر دَ مقصد دَ قرآن چه توحید دَ اسماؤ او صفاتو دے. بیا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ دُخان او دَ بطشة الکبریٰ سره بیا واقعه دَ فرعون تمو ته ده دَ پاره دَ دعوے دَ سورت او ذکر دَ نعمتونو په بنی اسرائیلو باندے بیا زجر او تخویف په سبب دَ انکار دَ بعث بعد الموت سره.

تفسير

۱-۲۔ په دے کښ هغه تفسیر دے چه سورة زخرف په اول کښ ذکر شوید ے۔ الْمُبِيْنِ په دے سورت کښ ایات په ذکر (پاکے په یل مخ)

فِيْ لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ اِنَّا كُنَّا مُنْذِرِيْنَ ③

په شپه برکتونو والا کښې یقینًا مونږ ویره ورکوونکي یو .

دَ عذابونو سره دے او سورة زخرف کښې ایاتت په دلیلونو او په جواب دَ شبهاتو سره دوَ
او دا قسم دے په طریقه دَ شهادت سره په اثبات دَ روستو ذکر شوی مقصد باندې
سبب ۳. دا جواب قسم دے یعنی ایاتت او وضاحت دَ قران شاهد دے چه دا منزّل من
الله دے او وخت دَ نزول ئے هم مبارک دے او دَ انتار دَ پاره پوره کتاب دے.
لَيْلَةٍ مُّبٰرَكَةٍ مراد دَ دے نه لیلة القدر ده په دلیل دَ سورة قدر سره او لیلة القدر
په رمضان کښې ده په دلیل دَ سورة بقره ۱۸۵ سره. او دا رنګ سورة قدر چه دَ لیلة القدر
په باره کښې من کل امر او سلام ذکر کړے نو دلته ئے فيها يفرق كل امر حكيم
او رحمةً ذکر کړے دے. بل دا چه په باره دَ فضیلت دَ لیلة القدر کښې ډیر
صحیح احادیث نقل کړے شویدی او دا فضیلت دَ هغې شپې په سبب دَ نزول دَ قران کریم
سره دے. بعض مفسرینو مراد دَ لیلة مبارکه نه پنځلسمه شپه دَ شعبان اخستے ده او
دَ هغې دَ فضیلت په باره کښې څه احادیث ئے نقل کړے دی لیکن هغه قول صحیح نه
دے اهل تحقیق مفسرینو دَ هغې رد کړے دے. قرطبی دَ ابن عربی نه نقل کړے
دی چه دا قول باطل دے او څوک چه ابتداء دَ نزول دَ قران دَ لیلة القدر نه علاوه
په بله شپه کښې وائي فَقَدْ اَعْظَمَ الْفِرْيَةَ عَلَى اللّٰهِ نو یقینًا په الله تعالٰی باندے
لویه افتراء کړے ده دا رنګ ابن کثیر وئیلي دی چه چا وئیلي دي چه دا شپه لیلة النصف
دَ شعبان ده لکه چه دَ عکرمه نه نقل شویدی فَقَدْ اَبْعَدَ النُّجْعَةَ (یقینًا دَ فائدے
نه لرے لاړو) . او کوم احادیث چه په باره دَ فضیلت دَ دغه شپه کښې ذکر کړے
شویدی نو په هغې کښې حدیث صحیح مرفوع متصل نیشته. قرطبی وئیلي دی چه نیشته په
باره دَ لیلة النصف من شعبان کښې حدیث چه اعتبار او کړے شی په هغه باندے
نه په باره دَ فضیلت دَ هغې کښې او نه نسخ دَ نیتو کښې نو هغې ته التفات مکوئ)
ابن کثیر وئیلي دی چه حدیث عکرمه حدیث مرسل دے دَ نورو نصوصو مقابله
نشی کولے. ملا علی قاری په مرقات کښې وئیلي دی چه دیلمی وغیره په لیلة نصف
من شعبان کښې شل رکعتونه مونځ ذکر کړے دے او هغې ته صلوٰة الفیه
وائي نو هغه حدیث موضوعی دے او دا مونځ اول په بیت المقدس کښې په ۴۴۸ سنه
کښې پیدا کړے شوے دے دا رنګ په دے شپه کښې یادَ دے نه په مځکښې شپو
کښې خلق اُورونه بَلَوی او دَ هغې سره لوبے کوی دا برامکه قوم په امته محمدیه
کښې دا رسم ایجاد کړے وو او دا رسم دَ مجوسیانو (او دَ هندوانو) دے. او حدیث

فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ④ أَمْرًا

په دے شپه کښ فیصله کیږی (په کتاب دَ ملائکو کښ) دَ هر کار چه حکمت والا وی په حکم کولو سره

مِّنْ عِندِنَا ۚ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ⑤ رَحْمَةً

زمونږ دَ طرف نه یقینًا موږ لیږونکی دَ رسُول یو - دَ وجے دَ رحمت

دَ ترمذی په فضیلت دَ دے شپے کښ راغلے دے او مشکوٰۃ کښ هم ذکر کړے کړے نو دَ هغے په سند کښ دوه انقطاع دی او امام بخاری هغے ته ضعیف ویلے دی او حدیث دَ معاذ بن جبل رضی الله عنه ابن ماجه وغیره راوړے دے دَ هغے په سند کښ ابن لهیعه ضعیف راوی دے او حدیث دَ علی رضی الله عنه چه ابن ماجه راوړے دے دَ هغے په سند کښ ابوبکر بن عبدالله العامری دے۔ محدثینو ویلے دی چه دهٔ به احادیث وضع کول او متروک دے او یل حدیث دَ عائشة رضی الله عنها بیهقی راوړے هغه هم مرسل حدیث دے۔ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ داعلت دے دَپاره دَ انا انزلناه یعنی مقصد دَ انزال قرآن انذار ورکول دی۔

سک:۔ داعلت دے دَ فی لیلة دَپاره یعنی انزال دَ قرآن ئے په دے شپه بورے دَ دے وجے نه خاص کړے دے چه په دے شپه کښ دَ محکمو کارونو فیصلے کیږی نو انزال دَ قرآن هم محکم کار وو نو په دے شپه کښ شروع شو يُفْرَقُ تقدیر دَ ټولو اشیاؤ دَ اسمانونو دَ پیدائش نه پنځوس زره کاله مخکښ شوے دے او دا په صحیح حدیث سره ثابت ده لیکن دَ هغے نه دَ یو کال دَپاره مقرر شوے څیزونه او کارونه جدا کړی او ملائکو ته ئے اوسپاری او دا جدا کول په لیلة القدر کښ وی دَ دے وجے نه يفرق ئے اُویل چه دلالت کوی په جدا کولو باندے۔

كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ دَ الله تعالیٰ په هر کار کښ حکمت دے دَ دے وجے نه قید دَ حکیم احترازی نه دے۔ او دا مؤمنی پیدا کول او مړه کول، دَ رزق مقدار او مدد او شکست که او تاوان، عبادتونه کول او گناهونه کول حج کول سفر کول وغیره دے ټولو ته لفظ دَ کل امر حکیم شامل دے۔

سه:۔ أَمْرًا تعلق لری دَ یفرق سره یعنی دغه فیصله دَ وجے دَ امر دَ الله تعالیٰ نه ده یا مفعول دے دَ فعل محذوف دَپاره (انزلنا امرًا)۔ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ علت دے دَ پټ دَپاره یعنی دَ انزلناه سره لِکے النبیَّ مراد وو نو داعلت دَ دے دے چه انزال دَ قرآن ئے محمد صلی الله علیه وسلم ته دَ دے وجے نه اوکړو چه موږ دهٔ لره رسول جوړ وؤ یکے یو۔ بله توجیه داده چه درے جواب قسم دی اول انا انزلنا۔ دویم انا کنا منذرین دریم انا کنا مرسلین۔

مِّنْ رَّبِّكَ ۚ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٦﴾

ستا د رب د طرفه نه یقیناً هغه هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے

رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۘ

رب د اسمانونو او د زمکے او د مینځ د دے دواړو دے

إِنْ كُنْتُمْ مُّوقِنِينَ ﴿٧﴾ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ يُحْيِي

که چرے تاسو یقین کوئے. نیشته حق دار د بندګئ سوا د هغه نه ژوندی کوی

وَيُمِيتُ ۖ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٨﴾

او مړه کول کوی رب ستاسو او رب د مشرانو ستاسو مخکنو دے.

سلـ:- دا مفعول له متعلق دے د انا کنا مرسلین سره یا د دړے واړو جوابونو سره او ترغیب دے چه نازلول د قران او انذار ورکول او رسول رالیږل دا ټول د رب د طرف نه خاص رحمت دے. او هر کله چه طلبګار د رحمت کله طلب کوی په ژبه سره نو د هغه د پاره ئے السمیع ذکر کړو او کله طلب کوی په زړه سره نو د هغه د پاره ئے العلیم اُوئیل او دا رنګ دا جمله خلاصه د قران او د انذار او د رسالت ده چه چه دا توحید دے. د دے وجه نه په روستو دوه ایاتونو کښ د تاکید د دے مسئلے د پاره نور صفتونه په طریقه د استدلال سره ذکر کوی او دا اسماء وصفات ئے نهه ذکر کړے دی.

کـ سـ:- مخکښ ئے درے صفتونه ذکر کړے دی او په دے دواړو ایاتونو کښ شپږ نور ذکر کوی. او مقصود په دے کښ اثبات د توحید دے او اظهار د عظمت د الله تعالیٰ د پاره د اثبات د عظمت د قران. اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ په دے شرط کښ خطاب دے هغه خلقو لره چه یقین کوی چه الله تعالیٰ خالق دے، او رب دے او جزاء د شرط پټه ده معنیٰ دا ده که چرے تاسو یقین لرئے چه الله تعالیٰ خالق او رب دے نو یقین او لرئے چه دا قران او رسول حق دے وجه د ملازمے دا ده چه دا قران او رسول هم د اثبات د خالقیت او د ربوبیت او الوهیت د الله تعالیٰ د پاره رالیږلے شوے دی. یا دا خطاب عام دے نو معنیٰ دا ده که اراده لرئے د یقین کولو په توحید د الله تعالیٰ باندے نو ایمان راوړئے په قران او په رسول باندے.

بَلْ هُمْ فِيْ شَكٍّ يَّلْعَبُوْنَ ۝٩ فَارْتَقِبْ
بلکه دوی په شک کښ دی په لوبو کښ مشغوله دی. نو انتظار اوکړه
يَوْمَ تَأْتِي السَّمَآءُ بِدُخَانٍ مُّبِيْنٍ ۝١٠
د هغه ورځ چه بنکاره به کړی اسمان لوګے ښکاره
يَّغْشَى النَّاسَ ۭ هٰذَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝١١
پټوی به خلقو لره دا عذاب درد ناک دے.
رَبَّنَا اكْشِفْ عَنَّا الْعَذَابَ اِنَّا مُؤْمِنُوْنَ ۝١٢
(وائی به دوی) اے ربه زمونږ لرے کړه زمونږ نه عذاب یقیناً مونږ ایمان راوړو.
اَنّٰى لَهُمُ الذِّكْرٰى وَقَدْ جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ
څه رنګ کیدے شی دوی ډپاره نصیحت اخستل او حال دا چه راغلے دے دوی ته رسول

ف ۹: دا زجر دے یعنی ددوی یقین په خالقیت او ربوبیت د الله تعالیٰ باندے حقیقی یقین نه دے بلکه په طریقه د تقلید د مشرانو دے نو معلومه شوه چه دوی په شک کښ دی او د دے سره چه دوی په ټولو افعال شرکیه او کفریه کښ مشغول دی نو هغه ټول لعب دی چه د هغے هیڅ فائده نیشته او د عُمر ضائع کیدل پکښ شته.

ف ۱۰ نه ۱۵ پورے. دا تخویف دنیوی دے په واقعه د دُخان سره. او په دیکښ دوه قولونه د مفسرینو دی اول قول امام بخاری په سند سره د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه نقل کړے دے مضمون ئے دا دے چه قریشو هرکله د نبی صلی الله علیه وسلم نه سخت مخالفت اوکړو نو هغه ورته دُعاء شر (خیرے) اوکړه چه یا الله په دوی باندے کالونه د قحط راولے پشان د کالونو د قحط په زمانه د یوسف علیه السّلام کښ نو په دوی باندے قحط شورو شو تر دے پورے چه دوی به هډوکی خوړل او یو تن به آسمان ته کتل نو دا سے به ورته ښکاره کیدل لکه چه دُخان دی نو دا آیاتو نه نازل شول بیا هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل چه یا رسول الله د قبیلے مضر (چه ستا خپلوان دی) ډپاره دُعا اوغواړه ځکه چه هغوی هلاک شول نو هغه دُعا د باران اوغوختله نو باران اوشو او نازل شو چه انکم عائدون. د دے حدیث په بنا مراد د دُخان نه قحط دے (پاتے په بل مخ)

مُّبِيْنٌ ﴿١٣﴾ ثُمَّ تَوَلَّوْا عَنْهُ وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ

ښکاره پیغمبر والا   بیا دوی مخ گرځولے دے دَ هغه نه   او   دوی وائي چه دهٔ ته چاخو دته کړیدی

مَّجْنُوْنٌ ﴿١۴﴾ اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا

لیونے دے   -   یقیناً موږ به لرے کړو   عذاب   لږه موده

اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ ﴿١۵﴾ يَوْمَ نَبْطِشُ الْبَطْشَةَ

یقیناً تاسو بیا راگرز ئے (کفرته) - نو په هغه ورځ چه نیول اوکړو موږ نیول

چه په هغه وخت دَ دخان په مثل پاندے دَ زمکے نه براس او غبار اوچت شو یوؤ او ښکاره کیدلو او دَ الناس نه مراد صرف مکے والا دی. دویم قول دَ علی او ابن عباس رضی الله عنهم نه نقل دے او دَ ابو سعید خدری رضی الله عنه نه مرفوعاً نقل دے "چه دُخان به را اوچت شی په ټولو خلقو باندے نو په مؤمن باندے به پشان دَ زکام وی او دَ کافر ټول بدن به پړسے او پړسیږی" او په دے روایت کښ دَ یوم القیامة نه مراد قریب دَ ورځ دَ قیامت ده ځکه په حدیث صحیح دَ مسلم کښ راغلی دی چه دَ قیامت نه وړاندے لس لوئے علامات دی اول یئے په هغے کښ دُخان شمارلے دے او بنا په دے قول دخان به حقیقتاً وی او څو ورځے پس به لرے شی او بل علامت به شورو شی. (زهٔ وایم) چه الفاظ دَ قرآن دَ دواړو سره موافقت لری لیکن اول قول زیات مناسب دے یعنی دا دُخان په مکه والو باندے واقع شویدے او بل دُخان به په علاماتِ قیامت کښ په ټولو خلقو باندے راځی، تَاْتِي السَّمَآءُ آسمان ته نسبت په دے وجه سره دے چه دَ زمکے ته په هغے سبب نه معلومیږی یا مراد دَ آسمان جَوّ (فضا) دَ آسمان ده. وَقَالُوْا مُعَلَّمٌ یعنی دوی ویل چه یو بشر دهٔ ته تعلیم ورکوی لکه سورة انعام ۱۰۵ او سورة نحل ۱۰۳ کښ دی یا شیطان دهٔ ته تعلیم ورکوی او دے کاهن دے. دَ اَنّٰی لهم الذکری نه تر دے پورے حاصل دا دے چه هر کله دوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم توهین او تکذیب اوکړو نو دا سبب دے دَ محروم کیدلو دَ ذکر نه او سبب دَ عذاب دے. اِنَّا كَاشِفُوا الْعَذَابِ قَلِيْلًا بناء په اول قول باندے وعده دَ لرکولو دَ عذاب ده په سبب دَ دُعا دَ نبی صلی الله علیه وسلم او په دویم قول باندے دَ علاماتِ قیامت په مینځ کښ چه لږ لږ وخت فاصله راځی هغه مراد ده. اِنَّكُمْ عَآئِدُوْنَ واپس کیدونکی یئے کفر ته دَ وجے دَ ضد او عناد نه په طبیعتونو کښ نو معلومه شوه چه وعده دَ ایمان راوړلو ستاسو (انا مؤمنون) دروغ ده.

الْكُبْرٰى ۚ اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ ﴿١٦﴾ وَلَقَدْ فَتَنَّا قَبْلَهُمْ

غټې یقیناً موږ بدله اخستونکي یو - او یقیناً ازمایښت کړے دے موږ مخکښې د دوی

قَوْمَ فِرْعَوْنَ وَجَآءَهُمْ رَسُوْلٌ كَرِيْمٌ ﴿١٧﴾

په قوم د فرعون باندے او راغلے وو هغوی ته رسول عزت والا

اَنْ اَدُّوْٓا اِلَيَّ عِبَادَ اللّٰهِ ؕ اِنِّيْ لَكُمْ رَسُوْلٌ

(دا چې وو) چه را کړئ ماته بندګان د الله تعالیٰ یقیناً زه تاسو لره رسول

اَمِيْنٌ ﴿١٨﴾ وَّاَنْ لَّا تَعْلُوْا عَلَى اللّٰهِ ۚ اِنِّيْٓ اٰتِيْكُمْ

امانت دار یم او دا چې مه کوئ په الله تعالیٰ باندے یقیناً زه راوړونکے یم تاسو ته

١٦ :- دا هم تخویف دنیوی دے او مراد د دے نه هلاکول د مشرکانو دی په ورځ د بدر کښې - یا دا تخویف اخروی دے او مراد د بطشة نه په ورځ د قیامت کښې رانیول د مشرکانو دی په سخت عذاب کښې . اِنَّا مُنْتَقِمُوْنَ مراد د انتقام نه سزا ورکول دی او انتقام په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه حد او اندازے ذکر ته دی -

١٧ :- دا د تخویف دنیوی مثال دے په واقعه د اهلاک فرعون سره - اشاره ده لکه چه فرعونیانو د عذابونو په وخت کښې د موسیٰ علیه السّلام سره وعدے د ایمان کړے وے په دے شرط سره چه زمونږ نه عذاب لرے کړه لکه سورة زخرف کښې ذکر شول لیکن بیا ئے هغه وعدے ماتے کړے نو الله تعالیٰ په هغوی باندے لوئے عذاب د غرق راوستلو نو دغسے حال د مکے د مشرکانو دے وَلَقَدْ فَتَنَّا مراد د فتنے نه امتحان کول دی په رالیږلو د رسول او په امر بالطاعة سره یا مراد د فتنے نه عذاب دے . كَرِيْمٌ دا په مقابله د قولِ فرعون کښې دے (مهين) چه په سورة زخرف کښې تیر شو . یعنی الله تعالیٰ کرامت او عزت او شرافت ورکړے وو په مختلفو طریقو سره په ښائسته اخلاقو او په اشراف نسب . او په نبوت او رسالت سره -

١٨ :- د دے دوه توجیه دی اوله توجیه دا ده د اَدُّوْٓا مفعول حذف دے طاعة الله او عباد الله منادیٰ ده او حرف ندا پټ دے او مراد د ادا نه اطاعت او تابعداری کول دی دویمه دا چه عباد الله مفعول دے د اَدُّوْٓا یعنی آزاد کړئے ما سره بنی اسرائیلو لره او دا دواړه مقصدونه د هغهٔ په کلام کښې په سورة اعراف ۱۰۵ سورة طٰه ۴۷ کښې موجود دی . اَمِيْنٌ امانت دار د وحی د الله تعالیٰ دا صفت د (یاتی په یل مخ)

بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ﴿١٩﴾ وَاِنِّيْ عُذْتُ بِرَبِّيْ وَرَبِّكُمْ

دليل ښکاره . او يقيناً پناه غواړم په رب خپل او په رب ستاسو

اَنْ تَرْجُمُوْنِ ﴿٢٠﴾ وَاِنْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا لِيْ

ددې نه چه تاسو ما سنګسار کړئ . او که ايمان نه راوړئ ماته

فَاعْتَزِلُوْنِ ﴿٢١﴾ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنَّ هٰٓؤُلَآءِ قَوْمٌ

نو په ډډه شئ زما نه . نو دعا ئې او غوښتله د رب خپل نه چه يقيناً دا خلق قوم دې

خپل ځان انبياء عليهم السّلام د خلقو د ترغيب د پاره کولے شي لکه سورة اعراف سـ۱۸ کښ تير شويدی ليکن د کريم صفت ذکر کول پخپله د ځان د پاره مناسب نه دی نو الله تعالى هغه صفت ورله د خپل طرف نه ذکر کړو.

سـ۱۹:- مخکښ امر بالمعروف ذکر شو او دا نهی عن المنکر ده او علو شامل دے تکبر کول د طاعت نه او افتراء او بغاوت کول او هر کله چه د بادشاهانو په اخلاقو کښ لوئي او تکبر وی د دے وجے هغوی ته په دعوت ورکولو کښ نهی د علو نه ذکر کيږی لکه سورة نمل سـ۳۱ کښ او په دے دواړو ايا تونو کښ جامع دعوت ذکر دے توحيد رسالت رد د شرک او کفر، معجزات پيش کول، د مؤحدينو حق ادا کول.

سـ۲۰:- هر کله چه فرعون اراده د هغه د قتل کړے وه لکه سورة غافر سـ۲۶ کښ ذکر دی نو موسٰی عليه السّلام د هغه نه د بچ کيدلو د پاره تعوذ ذکر کړو لکه سورة غافر سـ۲۷ کښ دی او فعل ماضی (عذت) په معنٰی د مضارع دے. اَنْ تَرْجُمُوْنِ رجم په کاڼو سره ويشتل دی يا په کنځلو او طعنو نو سره بد نامول دی.

سـ۲۱:- د دے نه مخکښ عبارت کښ تقدير دے يعنی فان امنتم لی افلحتم وان لم تؤمنوا لی رکه تاسو ايمان راوړو نو کامياب به شئ او که ايمان نه راوړے. لِيْ ايمان نه مراد معنٰی لغوی ده نو په صله کښ لام راځی يا ايمان شرعی دے او لام اجليه دے د وجے د بيان او د دليل زما نه فَاعْتَزِلُوْنِ مراد دا دے چه په ډډه شئ زما نه يعنی ماته د تکليف راکولو نه يا مراد دا دے جدا شئ زما نه يعنی زما قوم بنی اسرائيل ماته راجدا کړئ.

إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿۲۲﴾ فَأَسْرِ بِعِبَادِي لَيْلًا إِنَّكُم

یقیناً تاسو پسے به | ز شپے | زما | بندګان | بوځه | نو ته | - | مجرمان

مُّتَّبَعُونَ ﴿۲۳﴾ وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا ۖ إِنَّهُمْ

یقیناً دوی | او لاړ | دریاب | او پریږده | کیدلیشی | درتلل

جُندٌ مُّغْرَقُونَ ﴿۲۴﴾ كَمْ تَرَكُوا مِن جَنَّاتٍ

لښکر دے | غرق کړے شوے - | ډیر پریخودل دوی | دَ | باغونو نه

سـ۲۲ :۔ دا تفریع ده په پټ عبارت باندے یعنی فکفروا وکذبوا (دوی کفر او تکذیب اوکړو) نو هغه دُعاءِ شر اوکړه او تفصیل دَ هغے دُعا په سورة یونس سـ۸۸ کښ تیر شویدے او سبب دَ دے دُعا دادے أَنَّ هَٰؤُلَاءِ قَوْمٌ مُّجْرِمُونَ جرم بیکاره ګناهونه او فسق وفجور او ظلم ته ویلے کیږی او دا تعدی ده په کفر کښ او دا تعدی په اصل کښ سبب دَ عذاب دنیوی دے دَ دے وجے نه کافرانو ته ئے مجرمان اُوئیل۔

سـ۲۳ :۔ دا استجابت دَ دُعا دے نو عبارت کښ تقدیر دے یعنی قلنا له بعد الاجابة (اُوئیل مونږ هغه ته روستو دَ قبولولو دَ دُعا دَ هغهٔ نه) او دَ نجات دَ پاره سیر فی اللیل بهتره ذریعه ده یو دَ دے وجے نه چه فاسقان فاجران په هغه وخت کښ غافل او اوده وی دویم په مزل دَ شپے کښ خیر او برکت وی دریم دَ کرمئ دَ لارے نه بچ کیدل دی. نو دا رنګ سیر فی اللیل یعنی دَ شپے تهجد کول هم سبب دَ نجات دَ دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه اګرچه دلته اوله معنیٰ مراد ده ۔ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ په دے کښ هغوی ته تنبیه ده چه په مزل کولو او په ذکر دَ الله تعالیٰ کښ سُستی اونکړئ ځکه چه دشمنان در پسے در روان دی۔

سـ۲۴ :۔ په دے کښ اشاره ده ذریعے دَ نجات دَ بنی اسرائیلو او طریقه دَ عذاب دَ فرعونیانو ته۔ او اختصار دے په عبارت کښ یعنی امر ئے ورته اوکړو چه دریاب په عصا سره اُوهه نو په هغے کښ دولس لارے کولاؤ جوړے شوے او اوبه په خپل ځایونو باندے اودریدلے۔ هرکله چه بنی اسرائیل پورے لاړل نو موسیٰ علیه السلام اراده اوکړه دا دریاب دِ اوس په خپله روان شی دے دَ پاره چه فرعونیان په مونږ پسے رانشی نو الله تعالیٰ حکم اوکړو واترك البحر رَهْوًا په ځائے ولاړ یا فراخ لارے او علت دَ هغے ئے ذکر کړو په دے قول سره انهم جندٌ مغرقون۔

وَّعُیُوۡنٍ ﴿۲۵﴾ وَّزُرُوۡعٍ وَّمَقَامٍ كَرِیۡمٍ ﴿۲۶﴾
او دَ چینو نه - او فصلونه او ځایونه عزت والا
وَّنَعۡمَةٍ كَانُوۡا فِیۡهَا فٰكِهِیۡنَ ﴿۲۷﴾ كَذٰلِكَ
او دَ خوشحالئ سامان چه دوی په هغه کښ مزے کوونکی وو دغه شان او شو
وَاَوۡرَثۡنٰهَا قَوۡمًا اٰخَرِیۡنَ ﴿۲۸﴾ فَمَا بَكَتۡ عَلَیۡهِمُ
او پاتے کړو موږ دغه (باغونه وغیره) قوم بل ته - نو ژړا اونکړه په دوی باندے
السَّمَآءُ وَالۡاَرۡضُ وَمَا كَانُوۡا مُنۡظَرِیۡنَ ﴿۲۹﴾
آسمان او زمکے او نه وو دوی مهلت ورکړے شوی -

۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸ روستو دَ غرق کیدلو نه دَ هغوی دَ مالونو حال ذکر کوی او په دے کښ اشاره ده چه هغوی ټول غرق شول او دا رنګ اشاره ده چه غرق دَ دوی په معنیٰ حقیقی سره وو په معنیٰ مجازی سره (تاوان) نه دے وَنَعۡمَةٍ دا لفظ شامل دے ټول دَ دنیا هغه مالونو ته چه سبب وی دَ خوشحالئ او دَ مستئ او دَ تکبر. فٰكِهِیۡنَ خوشحالی او تکبر او مزے اخستونکی وو. او دا رنګ سورة شعراء ۵۷، ۵۸ کښ تیر شویدی.
فائده :۔ سورة شعراء کښ ئے کنوز ذکر کړے وو اشاره ده چه فرعونیانو به دغه خزانو سره دَ موسیٰ علیه السلام مقابله کوله ساحرانو ته ئے ویلی وو چه تاسوله به ډیر اجرت ورکړم او په دے سورت کښ دغه واقعه نه ده ذکر کړے دا رنګ په دے سورت کښ نَعۡمَةٍ ذکر دے او په سورة شعراء کښ نه وو ذکر کړے دَ دے وجے نه چه په دے سورت کښ دَ فرعونیانو علو او اراده دَ قتل دَ موسیٰ علیه السلام ذکر ده او دا دواړه کارونه دَ وجے دَ نعمة نه وو. كَذٰلِكَ په حالت دَ رفع کښ دے یعنی الامر كذالك. یا په حالت دَ نصب کښ دے افعل كذالك بمن عصانی، کووم دا شان کار دَ هغه چا سره چه نافرمانی کوی. قَوۡمًا اٰخَرِیۡنَ مراد هغه کمزوری خلق دی چه دَ لښکر دَ فرعون نه په مصر کښ روستو پاتے شوے وو. یا مراد تری نه بنی اسرائیل دی چه بنی اسرائیل په زمانه دَ داؤد علیه السلام کښ دغه ملک ته واپس راغلل او دَ هغه مالونو وارثان شول لکه سورة اعراف ۱۳۷ کښ دیته اشاره ده -
۲۹ :۔ په دے کښ مقصد سپکوالے دَ شان دَ فرعونیانو دے. ژړا دَ آسمان او زمکے په حقیقت باندے حمل ده لکه روایت دے دَ انس رضی الله عنه نه مرفوعاً "چه مؤمن دَ پاره په آسمان کښ دوه دروازے دی دَ یوے دروازے نه رزق نازلیږی

وَلَقَدْ نَجَّيْنَا بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ مِنَ الْعَذَابِ
او یقیناً نجات ورکړو مونږ بنی اسرائیلو ته د عذاب
الْمُهِيْنِ ﴿۳۰﴾ مِنْ فِرْعَوْنَ ؕ اِنَّهٗ كَانَ عَالِيًا
ذلیلوونکی نه د فرعون نه یقیناً هغه لوئی کوله
مِّنَ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدِ اخْتَرْنٰهُمْ عَلٰى
د حد نه د زیاتی کوونکو نه وو. او یقیناً غوره کړی وو مونږ دوی سره
عِلْمٍ عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَاٰتَيْنٰهُمْ مِّنَ الْاٰيٰتِ
د علم نه په ټولو عالمو باندے. او ورکړی دی مونږ دوی ته د نعمتونو نه

او نیکے دروازے ته عمل ورخیژی نو کله چه دے مړشی نو دا دواړه دروازے د اسمان په ده پسے ژاړی او بیا ئے دا ایت اولوستلو". او دا رنګ د ابن عباس رضی الله عنهما روایت دے چه څوک په زمکه باندے رکوع او سجده او نور اعمال د خیر کوی نو روستو د مرګ د ده نه هغه زمکه هم په دے مؤمن پسے ژاړی" نو مطلب د ایت دا دے چه د فرعونیانو هیڅ نیک عمل نه وو چه اسمان ته ختلے وو او نه په زمکه باندے د هغوی نیک عمل وو نو روستو د مرګ د دوی نه اسمان او زمکے په دوی پسے ژړا ونکړه. یا مراد د دے نه اهل السماء واهل الارض دی یعنی ملائکو د اسمان او مؤمنانو د زمکے په دوی پسے هیڅ ژړا ونکړه.

۳۰ تا ۳۳. روستو د عذاب د فرعونیانو نه چه ذکر دے په طریقه د تخویف دنیوی مشرکینو د پاره اوس انعامات په بنی اسرائیلو ذکر کوی په طریقه د بشارت سره د مؤحدینو د پاره. الْعَذَابِ الْمُهِيْنِ چه هغه سورة بقره ۴۹ کښ ذکر دی.
مِنْ فِرْعَوْنَ دا بدل دے د من العذاب نه په دے کښ مبالغه ده چه وجود د فرعون نفس عذاب وو. یا حال دے د العذاب نه یعنی دا عذاب صادر او واقع وو د طرف د فرعون نه. عَالِيًا سرکش چه د څپل قانون په ځان باندے نه منی دا سے په سورة قصص ۴ کښ هم دی.
۳۲. دا ذکر د دویم انعام دے په بنی اسرائیلو باندے دا فضیلت په ټولو خلقو باندے فضیلت جزئیه دے چه ډیر انبیاء ئے په بنی اسرائیلو کښ رالیږلے دی یا مراد ترے د هغه زمانے خلق دی او په دے امت باندے د هغوی فضیلت نیشته په دلیل د دے ایت سره كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ. (پاتے په بل مخ)

مَا فِيهِ بَلٰٓؤٌا مُّبِينٌ ﴿۳۳﴾ إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ لَيَقُولُونَ ﴿۳۴﴾

هغه چه په هغو کښ ازمیښت ښکاره وو ـ یقیناً دا خلق خامخا وائي

إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولٰى وَمَا نَحْنُ

نه دے دا مګر مرګ زمونږ وړومبے دے او نه یو مونږ

بِمُنْشَرِينَ ﴿۳۵﴾ فَأْتُوا بِآبَآئِنَآ إِنْ كُنْتُمْ

دوباره پورته کړے شوی ـ نو راوړے تاسو پلاران زمونږ که چرے تاسو

عَلٰى عِلْمٍ یعنی الله تعالیٰ عالم دے چه دوی په دغه وخت حق دار دَ فضیلت وو یا سرهٔ دَ علم دَ الله تعالیٰ نه دَ دوی په نقصانا تو پاندے۔

۳۳۔ دا ذکر دَ بل انعام دے او مراد دَ آیات نه هغه معجزات او نا اشنا انعامات دی چه بعض دَ هغې نه ذکر شویدی په سورة بقره کښ۔ بلاء نه مراد امتحان دے یا په معنیٰ دَ نعمت سره لکه په سورة انفال ۱۷ کښ۔

۳۴ ۳۵ ۳۶۔ دا متعلق دَ ۹ سره دے یعنی څه رنګ چه دوی په شک کښ دی دَ توحید او رسالت نو دا رنګ دوی منکر دی دَ بعث بعد الموت نه او په دے کښ زجر دے دَ دوی په انکار من البعث باندے۔ إِنْ هِيَ إِلَّا مَوْتَتُنَا الْأُولٰى اقوال دَ انکار دَ دوی دیر وو دَ دے وجے نه په لیقولون باندے وقف اوشو لیکن غټ قول ئے دا دے۔ په دے جمله کښ اشکال دے په دوه وجهو سره اول دا چه ضمیر دَ هِيَ ژوند ته راجع دے او که مرګ ته راجع دے که ژوند ته راجع وی نو دَ موت استثناء تربیه نه صحیح کیږی، او که مرګ ته راجع وی نو په مرګ کښ خو کلام نیشته دویم دا چه اولیٰ ئے اُویل نو معلومه شوه چه دویم مرګ خو شته او دویم مرګ خو هله کیدے شی چه په مینځ کښ ژوند وی نو معلومه شوه چه دوی دویم ژوند منی نو بیا خو تناقض راځی دَ دے روستو قول سره چه وما نحن بمنشرین؟ جواب دا دے چه ضمیر دَ هِيَ حالت او صفت عاقبت ته راجع دے نو معنیٰ دا ده چه نه دے زمونږ حال او صفت یا عاقبت مګر وړومبے مرګ دے او بیا دَ پسے ژوند نیشته او لفظ دَ اولیٰ مستلزم نه دے چه دویم موت دے وی استوی په تمهید کښ ویلے دی چه اول لغت کښ ابتداء دَ څیز او کار ته ویلے کیږی که وروسته دویم وی او که نه وی لکه ویلے کیږی چه فلانی اول حج اوکړو او بیا مړ شو دا ذکر کړیدے نیشاپوری او آلوسی په تفسیر و تو خپلو کښ۔ دویم جواب دا دے چه دوی

صٰدِقِيْنَ ﴿٣٦﴾ اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ ۙ وَّالَّذِيْنَ

رښتني يئ . آيا دوی غوره دي يا قوم د تبع او هغه کسان

مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ اَهْلَكْنٰهُمْ ۡ اِنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿٣٧﴾

چه د دوی نه مخکښې وو هلاک کړل موږ هغوی يقيناً هغوی وو مجرمان .

ته اُويلې شول چه تاسو به مړه کيږئ په دا سې مرګ سره چه ورپسې ژوند وي لکه چه په تاسو تير شوي دي دا سې مرګ چه په هغې پسې ژوندي شوي يئ لکه په سورة بقره ۲۸ کښې نو دوی په جواب کښې اُويل چه ته دې هغه مرګ چه په هغې پسې ژوند راځي مګر اولنی مرګ دی، بنا په دې توجيه ضمير د مرګ ته راجع دې ليکن مقيدا په دې قيد چه ورپسې ژوند وي يعني مَا الْمَوْتَةُ الَّتِيْ تَعْقُبُهَا الْحَيٰوةُ اِلَّا الْمَوْتَةُ الْاُوْلٰى. اول توجيه ته قصر افراد ويلې کيږي او دويم ته قصر قلب ويلې کيږي فَاْتُوْا بِاٰبَآئِنَآ دا حجت د منکرينو دې او د دې دوه توجيه دي يو دا چه زمونږ مړه شوي پلاران راژوندي کړې لکه سورة جاثيه ۲۵ کښې راځي دويمه توجيه دا ده چه د مشرانو ته قول او دليل پيش کړئ په دوباره ژوندون باندې موږ د مشرانو قول په دليل ۳۷ دا رد دې د دوی په انکار باندې په طريقه د تخويف سره. او مثال د تخويف ئې شورو کړې دې د قوم تبع ته اشاره ده چه آخري قوم چه هلاک شوي دي هغه قوم تبع وو. يا د دې وجه نه چه دوی مشرکين عرب ته ډير نزدې وو. اَهُمْ خَيْرٌ اَمْ قَوْمُ تُبَّعٍ خيريت په ډيروالي د مال او د قوم او د نورو نعمتونو او عزتونو د دنيوي دې. يعني هغوی د دې موجوده مشرکانو نه په دغه صفاتو کښې غوره وو ليکن په سبب د جرمونو سره هلاک کړې شوي دي نو دا موجوده به څنګه بچ شي؟ د تُبَّع په باره کښې د مفسرينو دوه قولونه دي اول دا چه ټول بادشاهان د يمن مراد دي هر يو ته به تُبَّع ويلې کيدلو لکه چه اسلامي بادشاه ته خليفه ويلې کيږي او دويم قول دا دې چه دا په هغوی کښې يو خاص بادشاه وو چه هغه ته اسعد ابو کريب الحميري ويلې کيدلو د قتاده نه نقل دې چه دهٔ به د اُور عبادت کاوو او دا رنګ قوم د دهٔ هم. ليکن دهٔ اسلام راوړلو او خپل قوم ئې اسلام ته راوبللو ليکن هغوی مخالفت اوکړو نو هغوی باندې عذاب راغې او دې بچ شو او د دهٔ دوه لونړه هم وې چه توحيد ئې قبول کړې وو هغوی هم بچ شوې او يو روايت کښې دي چه د دهٔ وخت د نبي صلی الله عليه وسلم نه اووه سوه کاله وړاندې وو. فراء په معالم التنزيل کښې د دهٔ په مدينه باندې د حملې اراده کول

وَمَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا

او نه دي پيدا کړي موږ اسمانونه او زمکه او هغه چه په مينځ د دغو کښې دي

لٰعِبِيْنَ ﴿۳۸﴾ مَا خَلَقْنٰهُمَآ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلٰكِنَّ

چه لوبې کوونکي يو - نه دي پيدا کړي موږ دا مګر د حق ښکاره کولو د پاره ليکن

اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ

ډير د دوی نه پوهيږي - يقيناً ورځ د فيصلې

مِيْقَاتُهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۴۰﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ مَوْلًى

مقرر وخت د دے ټولو دے داسے ورځ چه نه به شي دفع کولے يو دوست

او بيا د هغې نه روستو کيدل او اوس وخزرج ته د نبي اخرالزمان په باره کښې خط ورکول او هغوی ته وصيت کول چه زما سلام ورته او رسوئ دا ټوله واقعه ذکر کړے ده۔

۳۸-۳۹:- دا هم رد دے په انکار د بعث بعدالموت باندے په طريقه د استدلال سره. يعنی که چرے داسے وی چه خلق په يو بل ظلمونه کوی او د الله تعالیٰ سره شرک کوی او د هغه د نعمتونو ناشکری کوی او د دوی د سزا ورکولو د پاره څه مستقله ورځ نه وی دا رنګ څوک مصلحان وی او څوک مفسدان وی او د دوی د فرق د جزا او سزا يو ورځ او جنت او جهنم نه وی نو معلومه به شي چه د عالم خلقت بره او مينځ الله تعالیٰ بے فائدے پيدا کړے دے ليکن الله تعالیٰ د عبث او د لعب کولو نه پاک دے نو دويم ايت کښې د هغې نتيجه ذکر کړے ده چه دا عالم د حق د پاره پيدا شويدے بِالْحَقِّ حال دے د فاعل نه يعنی محقين فی خلقهما يا ب په معنیٰ د لام ده يعنی لاظهار الحق او لاقامة الحق او حق نه مراد توحيد دے يا د حق نه مراد حکمت دے چه جزا او سزا ورکول دی. په دے دويم ايت کښې ضمير تثنيه راوړو او مابينهما ئے تابع کړو د دواړو طرفينو د اختصار د کلام د پاره. په نتيجه کښې او په دليل کښې څو تفصيل پکار وی نو د دے وجه نه په اول کښې ئے مابينهما مستقل ذکر کړے وو۔

۴۰:- د دے ايت نه تر اخره د سورت پورے دويم باب دے په دے باب کښې تخويف اخروی تفصيلی مشتمل دے په ديارلس امورو باندے او بيا بشارت اخرويه تفصيله هغه هم مشتمل دے په ديارلس امورو باندے اختتام د سورت دے په

عَنْ مَّوْلًى شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۱﴾ إِلَّا

دَ یل دوست نه هیڅ مصیبت او نه به دوی سره مدد کیدیشی مګر

مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ ؕ إِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الرَّحِيْمُ ﴿۴۲﴾

هغه څوک چه رحم کړے وی په هغه باندے الله تعالی یقیناً الله تعالی زورآور رحم والا دے۔

إِنَّ شَجَرَتَ الزَّقُّوْمِ ﴿۴۳﴾ طَعَامُ الْأَثِيْمِ ﴿۴۴﴾

یقیناً ونه دَ زقوم خوراک دَ ګناهګار دے۔

كَالْمُهْلِ ۚ يَغْلِيْ فِي الْبُطُوْنِ ﴿۴۵﴾ كَغَلْيِ

پشان دَ ویلے کړے شوے تانبے خوټکیږی به په خیټو کښ پشان دَ خوټکیدلو

الْحَمِيْمِ ﴿۴۶﴾ خُذُوْهُ فَاعْتِلُوْهُ إِلٰى سَوَآءِ الْجَحِيْمِ ﴿۴۷﴾

دَ یشیدلو اوبو ۔ اونیسئ دے نو راکابږئ دے مینځ دَ دوزخ ته ۔

ترغیب الے القرآن او تخویف دنیوی باندے ۔ په دے (سلا) کښ دَ قیامت نوم یوم الفصل
ذکر کړے دے لکه په سورة مرسلات سلا کښ او نبا سکا کښ چه ذکر دے
یعنی جدائی به راولی په مینځ دَ مؤمن او کافر کښ اشاره ده چه په دنیائی عذاب کښ کله کله
مؤمنان او کافران شریک وی لیکن دَ قیامت په ورځ کښ به بالکل جدا جدا وی۔
سلا سلا په اول ایت کښ دَ یوم الفصل هیبت ئے ذکر کړے دے په دوه طریقو سره چه دوست
په دَ دوست پکار نه رائی او دَ دوی سره به دَ الله تعالی دَ طرف نه مدد نشی کیدے دویم ایت کښ
استثناء ده ۔ إِلَّا مَنْ رَّحِمَ اللّٰهُ مراد دے نه مؤمنان دی دوی دَ یو بل دَ پاره شفاعت کولے شی
په اذن دَ الله تعالی او الله تعالی به پخپله هم بغیر دَ شفاعت دَ شافعینو نه دَ بعضو سره امداد کوی۔
سلا سلا سلا سلا په دے ایاتو نو کښ ذکر دَ یو قسم عذاب دے په جهنم کښ چه هغه دَ
خوراک په صورت کښ دے او دَ دے او نے ذکر په سورة اسراء سلا او سورة صافات سلا کښ
تیر شوے دے الأَثِيْمِ مبالغه کوونکے په ګناه کښ یعنی غټ ګنهګار او هغه مشرک او کافر دے
كَالْمُهْلِ هر هغه خیزونه چه په اور کښ ویلے کیږی سرۀ، سپین، او سپنه، تانبه وغیره یا مراد
ترینه خیرے دَ تیلو ایشولو شوۍ دے او په یو حدیث کښ راغلی دی چه دَ شجرة الزقوم یو
قطره په دنیا کښ را او سیګی نو ټولے دُنیا والو باندے به دَ هغوی ژوند برباد کړی نو
څو مره بد حال به وی دَ هغه چا چه دا ئے خوراک وی۔ الله تبارک وتعالی دِ ترینه مونږ او
سکا سلا۔ په اول ایت کښ یو ه طریقه دَ عذاب ده یعنی دَ ځاځے دَ ر پاځے په یل مخ)

ثُمَّ صُبُّوا فَوْقَ رَأْسِهِ مِنْ عَذَابِ الْحَمِيمِ ﴿٤٨﴾

بيا واړوئ دَ سر دَپاسه ئې دَ عذاب دَ يشيدلو اوبو نه ۔

ذُقْ إِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْكَرِيمُ ﴿٤٩﴾ إِنَّ هَٰذَا

اوڅکه يقيناً ته زورآور سپيڅلي روپه وې ۔ يقيناً دا

مَا كُنْتُمْ بِهِ تَمْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي

هغه څيز دے چه تاسو په دے کښې شک کوئ ۔ يقيناً متقيان په

مَقَامٍ أَمِينٍ ﴿٥١﴾ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٢﴾

ځائے امن والا کښې دی په باغونو او چينو کښې به وی ۔

خوراک ته مېنځ دَ اور ته يه ئې په ډيرو سختو راخکلو سره بوځئ او په دويم آيت کښې بله طريقه دَ عذاب ده داسے په سورة حج سـ۱۹ کښې هم تيرشويدی او فوق راسه کښې زياته مبالغه ده په نسبت دَ من فوق راسه ۔ سورة حج کښې ثياب ئې ذکر کړے وو چه دلالت کوی په احاطه دَ عذاب په ټول بدن باندے نو هلته مِن کافی وو او دے سورت کښې دَ احاطے دَپاره بل لفظ نه وو نو فوق ئې بغير دَ من نه راوړو چه دلالت اوکړی په احاطه دَ ټول بدن باندے ۔

سـ۴۹ ته ۵ ۔ العزيزالکريم په ګمان دَ کافر کښې مراد دے يعنی کافر ګمان کوی چه زما پشان عزتمند او شريف په دُنيا کښې بل څوک نيشته نو هغه ته به استهزاءً په ورځ دَ قيامت کښې دا اُويلے شی اشاره ده که چرے ته عزيز او کريم وے نو تا ته به ولے دَ ذُقْ خطاب دَ ذلت کيدے شی ۔ تَمْتَرُوْن باب افتعال دلالت کوی په مبالغه باندے په مريه (شک) کښې يعنی هغه مسئله چه په عقلی نقلی دليلونو سره ثابت وی او يو انسان په هغے کښې شک کوی نو دا ډير جهل والا دے ۔

سـ۵ ته تر سـ۵ پورے په دے آيا تونو کښې بشارت اخرويه دے په تفصيل سره مَقَامٍ هغه ځائے دَ اقامت چه بل طرف ته تر يته تبديلی نه غواړی ۔ مقام په زور او پيښ دَ ميم سره کله په يو معنیٰ سره مستعمليږی او کله پکښې فرق وی دلته يو معنیٰ ده ۔ كَذَٰلِكَ خبر دَ مبتدا محذوف دے يعنی الامر کذالك دا جمله دَپاره دَ تاکيد ده يا منصوب ده په فعل مقدار سره أَكْرَمْنَاهُمْ مِثْلَ ذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُمْ مراد دے نه يو ځائے کول او جوړے کول دی پشان دَ ښځه او خاوند يا مراد دَ دے نه عقد دَ نکاح دے دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ (سوال) دَ تيرشوی

يَلْبَسُونَ مِن سُندُسٍ وَإِسْتَبْرَقٍ مُّتَقَابِلِينَ ﴿٥٣﴾

اغوندی به د نرو ریښمو او غټو ریښمو نه یو بل ته په مخامخ وی.

كَذَٰلِكَ وَزَوَّجْنَاهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٥٤﴾ يَدْعُونَ

دغه شان به وی او په نکاح سره به ورکړو موږ دوی ته حورے خائسته سترګو والے. را غواړی به دوی

فِيهَا بِكُلِّ فَاكِهَةٍ آمِنِينَ ﴿٥٥﴾ لَا يَذُوقُونَ

په دغے کښ هر قسم میوے په داسے حال چه په امن به وی د هر مصیبت نه. نه به څکی دوی

فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ ۖ وَوَقَاهُمْ عَذَابَ

په دغے کښ مرګ لیکن مرګ مخکنے (څو دوی څکلے دے) او بچ ساتی به الله تعالی دوی لره د عذاب

الْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

د دوزخ نه د وجے د فضل ستا د رب د طرف نه دا کامیابی

الْعَظِيمُ ﴿٥٧﴾ فَإِنَّمَا يَسَّرْنَاهُ بِلِسَانِكَ لَعَلَّهُمْ

لویه ده. نو یقینًا اسان کړیدے موږ دا قرآن ستا په ژبه باندے د دے د پاره

موت استثناء د راتلونکی حالت نه نه صحیح کیږی؟ جواب په دریو طریقو سره دے اوله طریقه داده چه استثناء منقطع ده یعنی لکن الموتة الاولی قد ذاقوها (اول مرګ خو دوی څکلے دے) دویمه طریقه اِلَّا په معنیٰ د بعد سره دے یعنی روستو د مرګ مخکښنی نه. دریمه طریقه دیته تعلیق بالمحال ویلے کیږی د پاره د تاکید یعنی که چرته تیر شوے مرګ دوی په راتلونکی وخت کښ څکلے شوے نو څکلے به ئے وے نو معلومه شوه چه هیڅ مرګ به نه څکی.

سوال: په جهنم کښ خو هم مرګ نیشته نو د جنت په دے کښ څه فضیلت دے؟

جواب: مقصد دا دے چه په جنت کښ حیات کامله دے او په جهنم کښ ژوند هم په ژوند باندے حساب نه دے سورة اعلیٰ کښ فرمائیلے دی لا یموت فیها ولا یحییٰ.

فَضْلًا مِّن رَّبِّكَ دا دلیل دے چه ثواب د عملونو په الله تعالیٰ باندے واجب نه دے بلکه د هغه فضل دے.

يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥٨﴾ فَارْتَقِبْ إِنَّهُم مُّرْتَقِبُونَ ﴿٥٩﴾

چه دوی نصیحت واخلی - تو انتظار اوکړه یقیناً دوی انتظار کوونکی دی -

س۵۸:۔ دا متعلق دے دَ ابتدا دَ سورت سره۔ ترغیب دے قرآن ته او تشجیع ده پیغمبر ته په بیا نولو دَ قرآن دَ پاره دَ دے چه دا خلق په تذکر دَ قرآن سره دَ عذاب دَ دنیا او دَ آخرت نه بچ شی. بِلِسَانِكَ په لغت ستا چه عربی ده او ژبه عربی دَ ټولو ژبو نه اسانه ده یا مراد دا دے چه ستا په ژبه باندے په اسانه طریقه سره قرآن چلوؤم په تا باندے لوستل او بیا نول گران نه دی۔

س۵۹:۔ دا هم متعلق دے دَ سورت دَ دعوے سره چه په سلګیتس وه. او مطلب ئے دا دے که چرے دے خلقو دَ قرآن دَ بیان نه تذکر او عبرت حاصل نه کړو نو بیا دَ دوی دَ عذاب انتظار اوکړه. یا مراد دا چه انتظار کوه دَ نصرت دَ الله تعالیٰ ستا سره او دوی انتظار کوی په تا باندے دَ تکلیفونو دَ راتللو او دَ مرګ۔

ختم شو تفسیر دَ دے سورت په فضل دَ الله تعالیٰ۔

سُوْرَةُ الْجَاثِيَةِ ۴۵ مَكِّيَّةٌ ۶۵ | بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۳۷ رُكُوْعَاتُهَا ۴

حٰمٓ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾

الله تعالیٰ ته دے په مراد سه پوهیږی . نازلول دَ دے کتاب دَ طرف دَ الله تعالیٰ ته دی زور او حکمتونو والا دے .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الجاثیة او دَ دے بل نوم سورة الشریعه دے

ربط دَ دے دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه تیرشوی سورت کښ تخویف وؤ په عذاب سره نو په دے سورت کښ ذکر دَ طریقے دَ نجات دے دَ دغه عذاب نه . دویمه وجه داده چه په هغه سورت کښ ذکر دَ نعمتونو وؤ په بنی اسرائیلو باندے نو په دے سورت کښ ذکر دَ ناشکرئ دَ هغوی دے دریمه وجه داده چه په سورة دخان کښ ذکر دَ عظمت دَ قرآن وؤ نو په دے سورت کښ سخت زجر دے دَ پاره دَ مخالفت کوونکو دَ قرآن نه او دَ هغوی قبائح ذکر کوی .

دعوىٰ دَ دے سورت :- آمر دے په اتباع دَ شریعت سره او نهی ده دَ تابعدارئ دَ هوئ نه په س۱۸ کښ او ورسره اثبات دَ توحید دے په آیات عقلیه او وحییه سره او په ذکر دَ پنځه اسماءِ حسنیٰ سره او دعوىٰ دَ توحید ذکر ده په س۳۶ س۳۷ کښ او دارنګ جواب دَ شبهے دَ مشرکینو دے هغه داده چه دوی وائی غیرالله ته رامدد شه وایو دَ هغوی بندګی کوو ځکه چه زموږ مشرانو داسے کول جواب ارشو

خلاصه دَ سورت داده .- دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر س۲۲ پورے دے په دے کښ ترغیب دے قرآن ته او هغے ته آیات وحییه ویلے کیږی چه س۲ س۶ س۱۱ س۲۰ دی او آیات عقلیه س۳ س۴ س۵ س۱۲ س۱۳ دی او زجر او تخویف دے دَ منکرینو دَ دے آیاتونو ته او متبعینو دَ خواهشاتو ته په س۷ س۸ س۹ س۱۰ س۱۹ س۲۱ کښ او تمثیل ئے دے په ذکر دَ حال دَ بنی اسرائیلو سره او خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته په س۱۴ س۱۵ کښ او دعوىٰ دَ سورت ده س۱۸ کښ .

تفسیر

س۱ :- په دے کښ بحث مخکښ تیر شوید ے .

س۲ :- دا ترغیب دے قرآن ته یعنی په قرآن کښ آیات وحییه دی دَ تعلیم او دَ اثبات د

إِنَّ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَاٰيٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٣﴾

يقيناً په اسمانونو کښې او زمکه کښې ډير دليلونه دی دپاره دَ ايمان والو -

وَفِيْ خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِنْ دَاۤبَّةٍ اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ

او ستاسو په پيدائيش کښې او هغه چه خواره کريږی ژندئ سر دليلونه دی دپاره دَ هغه قوم

يُّوْقِنُوْنَ ﴿٤﴾ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ

چه يقين کوی او په تلو راتلو دَ شپه او دَ ورځ کښې

وَمَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَاۤءِ مِنْ رِّزْقٍ

او په هغه کښې چه راواستولے دی الله تعالیٰ دَ اسمان نه څه (سبب) دَ رزق نه

فَاَحْيَا بِهِ الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيْفِ الرِّيٰحِ

نو تازه کړيږه په هغه سره زمکه روستو دَ وچوالی دَ هغې نه او په کرځيدلو دَ هواګانو کښې

اٰيٰتٌ لِّقَوْمٍ يَّعْقِلُوْنَ ﴿٥﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ

دليلونه دی دپاره دَ هغه قوم چه عقل نه کار اخلی - دا اياتونه دَ الله تعالیٰ دی

ف۳: دا دَ دليلونو عقليه نه اول دے په دے کښې ايات افاقيه علويه او سفليه ذکر کوی
فِي السَّمٰوٰتِ لفظ دَ خلق ئے نه دے ذکر کړے دپاره دَ دے چه عموم فائده کړی
يعنی په ذوات دَ اسمانونو کښې چه نمر، سپوږمئ او ستوری وغيره دی او په ذات دَ زمکه کښې
چه معدنيات نباتات او نور اسباب دَ معاش دی په دے ټولو کښې جدا جدا هم دلالت
دے په توحيد باندے او هغه بے شماره دی دَ دے وجے نه ايات ئے جمع ذکر کړيدے.
لِلْمُؤْمِنِيْنَ اشاره ده چه ايمان په حقيقت کښې سبب دَ عبرت او دَ استدلال دے. ضدی
منکر ته خو هيڅ فائده نه ورکوی -
ف۴: په دے کښې دويم دليل عقلی په ذکر دَ ايات انفسيه سره ذکر کوی
وَمَا يَبُثُّ ئے په صيغه دَ مضارع سره ذکر کړو دپاره دَ دلالت کولو په نوے نوے
دليلونو باندے او چه څومره دليلونه ډيريږی نو دومره شک او ګمانونه زائله کيږی
او درجه دَ يقين حاصليږی نو دَ دے ايت په اخر کښې يُوْقِنُوْنَ ذکر کړے دے.
ف۵: په دے کښې دريم دليل عقلی دے په ذکر دَ ايات متوسطه سره مِنْ رِّزْقٍ
ذکر دَ مسبب او مراد تربنه سبب دے يعنی باران - او هرکله چه په دے سورت
کښې په دليلونو سره دَ نعمتونو تذکير هم مقصد دے او ښکاره نعمت خو رزق دے

تَتْلُوْهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۚ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَ اللّٰهِ

لولود موتردا په تا باندے دَ پاره دَ حق ښکاره کولو نو په کومه خبره به روستو دَ کتاب دَ الله تعالی

وَاٰيٰتِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۞ وَيْلٌ لِّكُلِّ اَفَّاكٍ اَثِيْمٍ ۞

او دلیلونو دَ هغه نه دوی ایمان راوړی - تباهی ده هر ډیر دروغژن سخت گنهگار لره

يَّسْمَعُ اٰيٰتِ اللّٰهِ تُتْلٰى عَلَيْهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسْتَكْبِرًا

چه اوری آیاتونه دَ الله تعالی لوستلے کیدشی په هغه باندے بیا کلک شی په کفر باندے لوئی کوونکی وی

كَاَنْ لَّمْ يَسْمَعْهَا ۚ فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ۞

گویا چه نه وی اوریدلی هغه نو زیرے ورکړه دهٔ لره په عذاب دردناک سره.

نو دے وجے نه په دے باندے تصریح اوکړه او هر کله چه دا دلیلونه ډیر واضح دی هر عقل والا پرے پوهیږی دَ دے وجے نه په یعقلون سره ختم کړو۔
فائده :۔ په دے ترتیب کښ یو حکمت دے هغه دا دے چه فرمائی که چرے تاسو مؤمنان یئ نو په دے دلیلونو باندے پوهه شئ او که چرے طلب گار دَ حق او دَ یقین یئ نو فکر اوکړئ په دے دلیلونو کښ او که چرے نه مؤمنان او نه یقین والا یئ نو کم از کم دَ عاقلانو نه خو یئ نو کوشش اوکړئ په معرفت دَ دے دلیلونو کښ دویم حکمت دا دے چه په ۳ کښ ذکر دَ احوالو فلکیو دے او هغه لرے دی په هغے کښ صرف تصدیق کافی دے او په ۴ کښ انفسی دلیلونه دی چه هغه ډیر نزدے دی نو په هغے کښ یقین استعمال کړے دے او په ۵ کښ آثار دی بره او کوز او انقلابات دی نو دَ هغے دَ پاره صرف عقل هم پوره دے۔
۶ :۔ دا ترغیب دے دغه آیاتو عقلیو او قرآن ته بَعْدَ اللّٰهِ لفظ دَ حدیث پټ دے یعنی بعد حدیث الله تعالی او هغه قرآن دے لکه چه په سورة مرسلات ۵۰ کښ ذکر دی او اٰیٰتِهٖ ته مراد عقلی دلیلونه دی چه کوم مخکښ تیر شول۔
۷ ۸ :۔ په دے کښ زجر او تخویف دے منکرینو دَ آیاتونو ته په ذکر دَ پنځه صفاتِ قبیحه دَ هغه سره اَفَّاكٍ هغه څوک چه خبره دَ حق ته په اړولو کښ مبالغه او کوشش کوی په دروغ ویلو دهوکه کولو تحریف کولو سره- اَثِيْمٍ غټ گنهگار کافر او مشرک ته ویلے کیږی یَسْمَعُ اٰیٰتِ اللّٰهِ آیات وحییه او عقلیه دواړو ته شامل دے او په دے کښ اشاره ده چه دے نا خبره او بے علمه نه دے بلکه خبر دے بیا هم خلاف کوی ثُمَّ يُصِرُّ، اصرار نه مراد کلکیدل ر پاتے په یل مخ)

وَإِذَا عَلِمَ مِنْ آيَاتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا

او کله چه پوهه شي د ایاتونو زمونږ نه په یو شيز ونیسي هغه لره توقې

أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ ﴿٩﴾ مِنْ وَرَائِهِمْ

دغه کسان دوی لره عذاب د ذلیلوونکي دے - مخکښ د دوی نه

جَهَنَّمُ وَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ مَا كَسَبُوا شَيْئًا وَلَا

جهنم دے او نشي ارزولے د دوی نه هغه عملونه چه دوی کړیدي هیڅ عذاب او

مَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ وَلَهُمْ

نه هغه معبودان چه دوی نیولي دي سوا د الله تعالی نه مددګاران او دوی لره

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١٠﴾ هَٰذَا هُدًى وَالَّذِينَ كَفَرُوا

عذاب دے لوے شان والا - دا هدایت دے او هغه کسان چه کفر ئې کړیدے

په ګناه یاتلاسے په دوه طریقو سره اوله داچه ګناه ته وائي یعنې مبتلاء وی دویم داچه ضدي عنادي وی ګناه کړی لیکن د ضد د وجے نه ئې کوی او داسے ایت په سورة لقمان سے کښ د ذکر کړے شوے دے.

۹:۔ په دے ایت کښ زجر او تخویف او شپږم وصف قبیحه دے ۔ إِذَا عَلِمَ د دے دوه توجیه دی اول داچه کله پوهه شي چه دا د قران ایت دے نو په هغې پورے توقې کوی د ضد او عناد او د جهل د وجے نه - دویمه داچه کله چه د یو ایت په مقصد یا تی پوهه شي مثلًا ایت کښ رد د شرک دے نو په هغې پورے توقې کوی. أُولَٰئِكَ لَهُمْ داسے جمع د ذکر کړو اشاره ده چه کل افاك کښ یو شخص مراد نه دے بلکه ډیر کسان دی.

۱۰:۔ په دے ایت کښ پوره تخویف دے دغه شخص ته چه په هغه کښ دا شپږ قبیح صفتونه دی. مِنْ وَرَائِهِمْ وراء لفظ د اضداد ونه دے یعنې د دے معنی مخکښ او روستو دواړه راځي ۔ دلته (مخکښ) معنی مراد ده یعنې اوس په دنیا کښ دوی په عزت او تکبر کښ دی لیکن مخ ته (قیامت کښ) دوی لره جهنم دے. وَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ هر کله چه مخالفت کوونکی د حق دوه قسمونه دی یو دنیا پرست سرمایه داران نو د هغوی خیال دادے چه په مالونو ګناهو سره د عذاب نه بچاؤ حاصلیږی او دویم پیر پرست، قبر پرست، بت پرست د هغوی عقیده دا وی چه زمونږ پیران

بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ لَهُمْ عَذَابٌ مِّنْ رِّجْزٍ اَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾

په اياتونو دَ رب خپل دوی لره عذاب دے دَ سخت عذاب نه دردناک۔

اَللّٰهُ الَّذِيْ سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِيَ الْفُلْكُ

الله تعالٰى هغه ذات دے چه ستاسو په خدمت کښ لګولے دَ درياب دَپاره دَ دے چه روانے وی کشتئ

فِيْهِ بِاَمْرِهٖ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ وَلَعَلَّكُمْ

په هغے کښ په حکم دَ هغه سره او دے دَپاره چه اولټوئے دَ فضل دَ الله تعالٰى نه او دے دَپاره

تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲﴾ وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ

چه شکر اوکړئے تاسو۔ او خدمت کښ لګولے دَ تاسو لره هغه څه چه په اسمانونوکښ دی

بزرګان په موندره بے کوی نو په دے جمله کښ دَ اول قسم خلقو ترديد ئے اوکړو او په دويمه جمله کښ (ولا ما تخذوا من دونه اولياء) کښ دَ دويم قسم ترديد ئے اوکړو۔

فائده:۔ په دے اياتونوکښ شپږ اوصاف قبيحه او شپږ عذابونه ئے ذکر کړے دی۔ او دَ عذاب په صفت کښ اول اَلِيْمٌ ذکر کړو ځکه چه دغه سړی په دنيا کښ په اصرار او تکبر کولو سره په وخت دَ اوريدلو کښ دَ قرآن بيانوونکی زړه ته ډير درد رسولے دے۔ او دويم دَ عذاب په صفت کښ ئے مُّهِيْنٌ ذکر کړو ځکه چه په استهزاء کولو سره دَ قرآن او دَ قرآن والا اهانت ئے کړيدے نو دَ دهٔ سزا په اهانت وی او دريم صفت ئے عَظِيْمٌ ذکر کړيدے اشاره ده چه دا عذاب به دوی باندے دَ هر جهت نه په هره زمانه کښ په هر اندام دَ دوی باندے احاطه کوونکے دے۔

سلا:۔ په دے کښ ترغيب دے قرآن ته او تخويف دے منکرينو ته۔ هٰذَا اشاره ده قرآن ته چه مشتمل دے په اياتو وحييو او عقليو باندے هُدًى تنکير دَپاره دَ تعظيم دے۔ مِنْ رِّجْزٍ دا په اصل کښ ګنده عذاب ته ويلے کيږی چه دَ هغے نه نفرت کيدے شی لکه په دنيا کښ طاعون وبا او په آخرت کښ ماءِ صديد او غسلين۔

سلا سلا:۔ په دے اياتونوکښ بيا عقلی دليلونه دی۔ تير شوی دليلونه صرف په طريقه دَ ايات باندے وو او دا دليلونه په طريقه دَ انعاماتو باندے دی دَ دے وجے نه سَخَّرَ لفظ ئے په کښ ذکر کړے دے او دَ تسخير دَ بحر نه مراد دا دے چه په هغے کښ ئے دا سے صفات پيدا کړے دی چه تاسو پکښ کشتئ چلولے شئ لکه نرم والے او همواری، درميانه هوا کانے، موجونه په (پاتے په بل مخ)

وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ
او هغه څه چه په زمکه کښې دی دا ټول د الله تعالیٰ د طرف نه دی یقینًا په دے کښې
لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٣﴾ قُل لِّلَّذِينَ
ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه فکر کوی ۔ ته اوایه هغه کسانو ته
آمَنُوا يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ
چه ایمان ئے راوړے دے بخښنه دِ کوی (د خپل حق) هغه کسانو ته چه عقیده نه لری د ورځو د الله تعالیٰ
لِيَجْزِيَ قَوْمًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ مَنْ
دے د پاره چه جزا ورکړی قوم ته په سبب د هغه عملونو چه دوی کول ۔ چا چه
عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا ۖ
عمل اوکړو برابر د سنت نو د هغه د فائدے د پاره دے او چا چه بد عمل اوکړو نو دبال ئے په هغه باندے
ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١٥﴾ وَلَقَدْ آتَيْنَا
بیا ستاسو رب ته به ورواګرځولے شئ ۔ او یقینًا ورکړے وو موږ

اندازے سره او د کشتو جهازونو ځان ته نه چلاب کول وغیره حالات او دا ټول په قدرت د الله تعالیٰ سره دی د هیڅ مخلوق په هغے کښې هیڅ دخل نیشته ۔ دا رنګ تسخیر د ما فی السموات وما فی الارض نه مراد دا دے چه په آسمانونو کښې ملائک او په دغه طرف کښې نمر، سپوږمۍ، ستوری او په زمکه کښې زنده سر اونے بوټی نهرونه غرونه وغیره ټول د انسان د فائدو او د خدمت د پاره پیدا کړیدی او د هغے نه د فائدے اغستلو د پاره الله تعالیٰ اسان اسباب پیدا کړیدی ۔ او جَمِيعًا مِّنْهُ کښې تصریح ده چه په دے کښې د هیڅ مخلوق دخل او اختیار نیشته صرف احسان د الله تعالیٰ د طرف نه دے او جَمِيعًا حال دے د ما فی السموات اه نه یا فعل پټ دے د اعتقدوا جمیعًا منه او من په منه کښې د پاره د ابتدا دے نه د پاره د تبعیض ۔

۱۴ سے ۱۵ ۔ روستو د دعوت نه په دلیلونو سره تعلیم د ادب او د حسن اخلاق دے د دعوت (تبلیغ) کوونکو ته۔ يَغْفِرُوا لِلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ أَيَّامَ اللَّهِ یعنی کوم خلق (منکرین) چه موحدینو ته تکالیف ورکوی او بے عزتی او تخل کوی هغوی په حقیقت کښې د عذابونو د الله تعالیٰ (چه په منکرینو باندے نازل شویدی) او نعمتونو د الله تعالیٰ (چه موحدینو ته ورکړے شوے دی) عقیده نه لری د دے وجے نه دوی دا سے

بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ

بنی اسرائیلو ته کتاب او پوهه د دین او پیغمبري

وَرَزَقْنَٰهُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَفَضَّلْنَٰهُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾

او ورکړې وو موږ دوی ته د پاک خوراکونو نه او غوره والے ورکړے وو موږ دوی ته په ټولو خلقو باندې.

وَءَاتَيْنَٰهُم بَيِّنَٰتٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ ۖ فَمَا ٱخْتَلَفُوٓا۟ إِلَّا

او ورکړے وو موږ دوی ته ښکاره حکمونه د دین نو اختلاف اونه کړو دوی مګر

مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلْعِلْمُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۚ

روستو د هغې نه چه راغے دوی ته علم د وجې د ضد کولو نه په مینځ خپل کښې

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِى بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا

یقیناً ستا رب به فیصله اوکړي په مینځ د دوی کښې په ورځ د قیامت په هغه څیز کښې

كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١٧﴾ ثُمَّ جَعَلْنَٰكَ عَلَىٰ

چه دوی پکښې اختلاف کوي. بیا ـ ئې اوګرځولے ته په

بداخلاقي کوي. يَغْفِرُوا د دے نه مراد د هغوی نه بے پرواهي کول او د کنځلو وغیره د جواب نه چُپ کیدل او صبر کول دي. او دا اخلاق حسنه که د قتال د فرضیت نه مخکښې وي او که روستو وي نو منسوخ نه دي بلکه دائمي له په دے باندے هر وخت عمل پکار دے لِيَجْزِيَ قَوْمًا دا عام دے مؤمنانو او کافرانو ته او بیا په دویم آیت کښې تفصیل د دے جرا ذکر شوید ے.

سلا سکا :- دا تمثیل دے د ما قبل د پاره یعني لکه چه مخاطبینو د قرآن ته آیات بینات ئې ورکړل او آخري نبي ئې ورته را اولیږلو لیکن دوی مخالفت اوکړو نو الله تعالیٰ به دوی له د دوی مناسب جزاء ورکوي نو دا رنګ ئې بني اسرائیلو ته آیات او نبوت او نعمتونه ورکړے دي او هغوی هم سره د علم نه اختلاف اوکړو. او هر کله چه د دواړو مضمونو نه یو بل سره موافق دي د دے وجے نه حرف د عطف (واؤ) ئې ذکر کړے دے. بیا په دے آیتونو کښې شپږ نعمتونه ئې په هغوی باندے ذکر کړل پنځه په اول آیت کښې او یو په دویم آیت کښې. وَالْحُكْمَ علم او فهم د کتاب الله چه هغه په اصل کښې سنّت (حدیث) د انبیاؤ دے. بَيِّنَاتٍ مِّنَ الْأَمْرِ مراد د دے نه احکام د حلال او حرام او شرائع د دوی وو. یا پیدایښت (رپاتے په بل مخ)

شَرِيعَةٍ مِّنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ
ښکاره لاره یاندے د دین نو تابعداري کوه د هغې او تابعداري مه کوه د خواهشاتو
الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٨﴾ إِنَّهُمْ لَن يُغْنُوا
د هغه کسانو چه نه پوهیږي - یقیناً دوی نشي لرے کولے
عَنكَ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَإِنَّ الظَّالِمِينَ بَعْضُهُمْ
ستانه د (عذاب) د الله تعالیٰ نه هیڅ څیز او یقیناً ظالمان بعض د دوی

اشاره ده ښکاره صفتونو او حالاتو د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم ته چه د دوی په کتاب کښ ذکر شوی وو - بَغْيًا بَيْنَهُمْ یعني کورنۍ کښ بعضو د دوی د بعضو سره ضد او عناد او حسد شورو کړو په طلب د ریاست او د مشرۍ سره. او په دے کښ اشاره ده چه د اختلاف منشا علماء دی او سبب د هغې بغي (ضد او عناد دے) او دغه اختلاف بیا متعدي شي عوامو خلقو ته او دا رنګ تیر شوي دي په سورة بقره ۲۱۳ آل عمران ۱۹ شوریٰ ۱۴ کښ.

۱۸:- په دے آیت کښ دعویٰ د سورت ده - او هر کله چه مخکښ ذکر شو چه بني اسرائیلو خپل دین د وجے د بغي او د اختلاف نه برباد کړے دے او د عوامو مشرکانو حال هم ذکر کړے شو چه هَوىٰ افاك او اثیم وغیره دي نو معلومه شوه چه د دغه دواړه ډلو تابع داري کول نه دي جائز نو د دے وجے نه تاله مستقل شریعت درکړے شوے دے (چه هغه قرآن او سنّت دے) نو د دے تابعداري کول فرض دي. شَرِيعَةٍ په عام اصطلاح کښ هغه لارے ته ویلے کیږي چه قراخه تیغه آسانه او مقصد ته رسوونکے وي او په اصطلاح د شرع کښ هغه احکام اوامر نواهي حدود فرائض وغیره ته وئیلے شي چه الله تعالیٰ بندګانو ته د رسول په واسطه رالیږلے وي. مِّنَ الْأَمْرِ مراد دے نه مطلق دین دے او لفظ د جَعَلْنَاكَ کښ یو فائده دا ده چه شریعت په وحی سره ثابتیګی دویمه فائده دا چه د نبي صلی الله علیه وسلم د نبوت ثبوت تول شریعت دے الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ دا مخکښ تیر شوے دواړو ډلو ته شامل دے که امیان جاهلان دي او که اهل کتاب دي خو چه په علم باندے عمل پریږدولے دے - او په دے کښ اشاره ده چه مخالف د شریعت (وحي) ته د هیچا قول منل جائز نه دي ځکه چه بے علمه بے دلیله ته ویلے کیږي.

أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُتَّقِينَ ﴿١٩﴾ هَٰذَا

ملګری د بعضو دی او الله تعالی ملګرے د متقیانو دے دا قرآن

بَصَآئِرُ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ

دلیلونه د رڼا دی زړونو د خلقو لره او هدایت او رحمت دے هغه قوم لره

يُوقِنُونَ ﴿٢٠﴾ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا

چه یقین لری - ایا ګمان کوی هغه کسان چه کوی

السَّيِّـَٔاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ ءَامَنُوا

بدکاری ئے داچه ګرځوو مونږ دوی لره پشان د هغه کسانو چه ایمان ئے راوړیے دے

وَعَمِلُوا الصَّٰلِحَٰتِ سَوَآءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ

او عملونه ئے کړیدی د سنت موافق چه برابر وی ژوند د دوی او مرګ د دوی

سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ وَخَلَقَ اللَّهُ السَّمَٰوَٰتِ

بد دے هغه فیصله چه دوی کوی - او پیدا کړیدی الله تعالی اسمانونه

۱۹:۔ دا علت د لا تتبع اهواء او دے لَن يُغْنُوا عَنكَ د دے دوه مطلبه دی یو داچه که د دوی تابعداری کوئے نو د هغې په وجه سره د عذاب د الله تعالی نه په دنیا او اخرت کښ نشے بچ کیدلے۔ دویم داچه د دوی تابعداری د حق د تابیانو په باره کښ تا ته هیڅ فائده نشی درکولے یعنی د دوی اهواء دلیل د اثبات د حق نشی کیدلے۔
بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ مراد د ولایت نه تابعداری د کشرانو ده مشرانو لره او مشابهت دے د یو بل سره په شرک او خرافاتو کښ او د یو بل سره په باطل کښ مدد کول. مراد د دے نه دوستانه کول نه دی ځکه چه د دوی په مینځ کښ کله دشمنی هم وی لکه سورة مائده ۵۱ کښ تیر شویدی۔
۲۰:۔ دا ترغیب دے قرآن ته او علت دے د فاتبعها د پاره یعنی د شریعت تابعداری د دے وجے نه واجب ده چه په هغې کښ دا درے اوصاف عالیه دی۔ بصائر، هدی، رحمت. اول کښ قرانی دلیلونو ته اشاره ده په دویم کښ د قرآن دعاوی او مقاصدو ته اشاره ده او په دریم کښ د دے فائدے او ثمرے ته اشاره ده۔
۲۱:۔ په دے ایت کښ زجر او رد دے په منکرینو د شریعت باندے او واپئی چه شریعت او غیر شریعت یو شے دے۔ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّـَٔاتِ یعنی (ریا کے په یل مخ)

وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَلِتُجْزٰى كُلُّ نَفْسٍۢ

او ځمکه دَ حق دَ پاره او دَ دې دَ پاره چه جزا ورکړشي هر یو تن ته

بِمَا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾ اَفَرَءَيْتَ

دَ هغه عمل چه کړے وي او په دوي باندے به ظلم نشي کیدے ۔ "ایا بوهه یې ته په حال دَ هغه

مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ وَاَضَلَّهُ اللّٰهُ عَلٰى عِلْمٍ

چا چه چوړ کړے دے معبود خواهش خپل لره او بے لارے کړے دے ده لره الله تعالیٰ په علم باندے

وَّخَتَمَ عَلٰى سَمْعِهٖ وَقَلْبِهٖ وَجَعَلَ عَلٰى بَصَرِهٖ

او مُهر یې وهلے دے په غوږ دَ ده او زړهٔ دَ ده او اچولے دي په سترګو دَ هغه باندے

شرک او کفر بدعات او نور ګناهونه کوي او دَ شریعت نه خلاف کوي سَوَآءً په دَ باندے زوَر پیادے په دے چه دا حال دے دَ کَالَّذِیْنَ نه، او محیاهم و مماتهم ضمیر دواړه دلوته راجع دے او استفهام په ام حسب کښ استفهام انکاري دے. حاصل دا دے چه کافران دا ګمان کوي چه زمونږ او دَ مؤمنانو په ژوند او په مرګ کښ هیڅ فرق نیشته نو دا ګمان یې غلط دے بلکه ژوند دَ مؤمنانو په طاعت دَ الله او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے دے او ژوند دَ مشرکانو په معصیت او په ګناهونو کښ دے دَ مؤمنانو په زړونو کښ اطمینان او تسلّي ده او کافران همیشه پریشان دي او مرګ دَ مؤمنانو په بشارت سره دے ملائک ورله زیری ورکوي او مرګ دَ کافرانو په ذلت او په رسوائي او په سختۍ سره دے او دا ایت په تیرو دَ مفسرینو مسمّی دے په مبکاة العابدین سره ځکه چه ډیرو صالحینو نه نقل دے چه دَ شپې په مانځه کښ دے ایت له را اورسیدل نو بار بار به یې لوستلو او ژړل به یې.

۲۲: دَ دے ایت نه تر اخره پورے دویم باب دے په دے کښ نور ایاتِ عقلیه ذکر کوي او زجر دے په اتباع دَ هوئ او په انکار دَ قیامت سره. بیا بشارت دے تابعدارانو دَ شریعت ته او تخویف دے تابعدارانو دَ هوئ ته. په دے (۲۲) کښ دلیل عقلي دے او دا رنګ دا رد دے په مخکښ ګمان دَ کافرانو باندے چه مساوات دے دَ حال. حاصل دَ رد دا دے یعني ایجاد دَ دے عالَم دلالت کوي په عدل او په اتصاف باندے او هغه فرق کول دي په جزا دَ فریقینو کښ بِالْحَقِّ مراد دَ حق نه توحید دے یا عدل دے او بَآء سببیه ده نو وَلِتُجْزٰى په دے باندے عطف دے.

غِشٰوَةً ؕ فَمَنۡ يَّهۡدِيۡهِ مِنۡۢ بَعۡدِ اللّٰهِ ؕ

پردے | نو څوک به | هدایت ورکړي | د ده ته | روستو | د بے لارے کولو د الله تعالیٰ نه

اَفَلَا تَذَكَّرُوۡنَ ﴿۲۳﴾ وَقَالُوۡا مَا هِىَ اِلَّا حَيَاتُنَا

آیا نو | نصیحت نه اخلی دوی . | او | دوی وائي نه دے | دا ژوند | مګر ژوند زمونږ

الدُّنۡيَا نَمُوۡتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَاۤ اِلَّا الدَّهۡرُ ۚ

نږدے | مړه کیږو | او | ژوندی کیږو او نه مړه کوی مونږ لره | مګر | زمانه

۲۳:- دا زجر دے او رد دے په مخکښ ګمان د کافرانو باندے چه د کافرانو حال څه رنګ د مؤمنانو سره برابر کیدېشی او حال دا چه دوی د هوی نه اِلٰه جوړ کړے دی او مهر زده ګمراهان دی. الهه هواه په دے کښ دوه توجیه دی اوله دا ده چه الهه مفعول اول دے او هواه مفعول ثانی دے یعنی اِلٰه یې د خپل خواهش په تقاضا جوړ کړے دے د چا خواهش دے چه بُت اِلٰه دے او د چا خواهش دے چه قبر الٰه دے او د چا پیر الٰه دے او د چا شیخ الٰه دے وغیره او دلیل ورسره نیشته او حال دا چه اِلٰهه صرف الله تعالیٰ دے چه د هغه په الوهیت باندے بیشکاره آیات او دلیلونه شته دے. دویمه توجیه دا ده چه اِلٰهه مفعول ثانی دے مقدم کړے دے د اهتمام د وجے نه او هواه مفعول اول دے یعنی د هوی (خواهش د نفس) دا سے تابعداری کوی لکه د الله چه تابعداری کیږی یعنی په خپل خواهش باندے حلال او حرام جوړوی جائز او ناجائز جوړوی او په هغے پسے روان وی او تفسیر قرطبی کښ د اتباع هوی په قباحت ډیر احادیث او اقوال د صالحینو نقل کړیدی.

فائده:- دا سے آیت په سورة فرقان ۴۳ کښ هم تیر شویدے نو فرق دا دے چه په هغه سورت کښ اوله توجیه راجح ده او په دے سورت کښ بحث دے په اتباع الهوی باندے نو دلته دویمه توجیه راجح ده. و اضله الله علی علم دا عطف د مسبب دے په سبب باندے او علی علم حال دے د مفعول نه یعنی دا ګمراه پوهه دے په ګمراهۍ خپله باندے یا حال دے د فاعل نه یعنی الله تعالیٰ عالم دے د ده په ګمراهۍ باندے یا د ده په حال باندے چه دے لائق د ګمراهۍ دے. وختم علی سمعه دا هم عطف د مسبب دے په سبب باندے. هرکله چه په دے سورت کښ آیات وحییه او عقلیه بیان شول ر پاتے په بل مخ)

وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ إِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾

او نیشته دوی لره په دے باندے هیڅ دلیل دوی نه دی مګر ګمانونه کوی۔

وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ مَّا كَانَ

او کله چه لوستے کیږی په دوی باندے آیاتو نه زموږ ښکاره نه دی

حُجَّتَهُمْ إِلَّا أَن قَالُوا ائْتُوا بِآبَائِنَا إِن كُنتُمْ

دلیل د دوی مګر دا چه وائی راولے مشران زموږ که یئ تاسو

صَادِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلِ اللَّهُ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ

رښتنی - ته اوایه الله تعالی تاسو ژوندی کوی بیا به مو مړه کوی

او د آیاتو وجیبه د پاره سمع ضروری ده او د آیاتِ عقلیه د پاره عقل او لیدل پکار دی نو درے واړه یئ په ترتیب سره ذکر کړل۔

ﻣﺴ ۲۴: دا زجر دے په انکار د قیامت سره او عطف د مسبب دے په سبب باندے نَمُوتُ وَنَحْيَا (سوال) د هغې نه معلومه شوه چه د مرګ نه پس د دوباره ژوند نه دوی منکر دی او په دے جمله کښ روستو د مرګ نه ژوند ذکر کړے دے نو دا په ظاهرکښ تعارض دے د دے جوابات دی اول جواب زجاج ویلے دی چه مړه کیږو بعض او ژوندی (پیدا) کیږو بعض۔ دویم جواب موت نه مراد نطفه کیدل په ارحامو د مائنډو کښ او د حیات نه مراد دنیوی ژوند دے دریم جواب مړه کیږو موږ او ژوندی بویه بقاء د اولاد سره څلورم جواب نموت په معنیٰ د ماضی دے مړه شویدی بعض زموږ او بعض ژوندی پاتے یو (تر یو وخت پورے) پنځم جواب د حیات نه مراد حیاة د روح دے په عقیده د تناسخ سره چه روح د بدن نه اوځی نو منتقل شی بل انسان یا حیوان ته۔ وَمَا يُهْلِكُنَا إِلَّا الدَّهْرُ دا رد دے په عقیده د بعض عرب جاهلانو چه د هغوی عقیده داوه چه حوادث، تکالیف، او مرګ د دے فاعل دهر دے او د دے وجه نه دوی به د مصیبت په وخت کښ دهر ته ناکاره الفاظ ویل (یا خیبة الدهر) او حدیث صحیح کښ وارد دی چه "لا تسبو الدهر (نسبت د مصیبتونو راوستلو دهر ته مکوئی) فان الله هوالدهر" او قرطبی ویلے دی چه صحیح دا ده چه دهر د الله تعالی نوم نه دے بلکه په دے حدیث کښ معنی وصفی مراد ده یعنی: الفاعل والمتصرف. د دے نه معلومه شوه چه څوک د بعض حوادثو نسبت زمانے ته کوی یا د ټولو حوادثو نو دا قول کافر دی او دوی ته دهریان هم ویلے کیږی. او دا فتنه په دے وخت کښ ډیره

ﻣﺴ ۲۵: دا زجر دے په انکار د آیاتو نو د بحث بعد الموت سره او طلب د داسے دلیل دے چه هغه

ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ

بیا به جمع کړی تاسو درځ د قیامت ته چه شک نیشته په هغې کښې

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾ وَلِلَّهِ

لیکن ډیر خلق پوهه نه لری . او خاص الله تعالیٰ لره

مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ

ده بادشاهی د اسمانونو او د زمکې او په هغه درځ چه قائم شی قیامت

يَوْمَئِذٍ يَخْسَرُ الْمُبْطِلُونَ ﴿٢٧﴾ وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ

نو په دغه درځ به تاوان بنکاره شی د باطل پرستو خلقو . او ته به وینې هر اُمت

په حقیقت کښ دلیل نه دے هغه داد ے ائتوا بآبائنا یعنی زمونږه پلاران ژوندی کړے نو مونږ ته به په مشاهده سره ثابت شی چه دوباره ژوند شته یا مراد دا دے چه زمونږ مشران د مونږ ته اُوائی چه بعث بعد الموت حق دے مونږ صرف د خپلو مشرانو خبره منو. دا خو هیڅ حجت نه دے نو معلومه شوه چه دیته ئے حجت مجازاً ویلے دے یا حجت په معنیٰ د بهانے دے لکه سورة نساء ۱۶۵ کښ .

۲۶ : دا جواب دے د دعوی د شبهے او اشاره ده چه کوم ذات چه ستاسو په اول حیات باندے قادر دے نو په دوباره ژوند خو ضرور قادر دے . ثُمَّ يَجْمَعُكُمْ د دوباره ژوند نه ئے تعبیر په جمع سره د دے وجے نه اوکړو چه دوی په اصل کښ د جمع کولو د هډوکو او غوښو د هر یو بدن نه تعجب کاوو لکه سورة القيامة ۳ کښ دی.

۲۷ : دا هم دلیل عقلی دے د توحید او د بعث بعد الموت د پاره وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ دا يومئذ د د ے تاکید دے او د دے نه تو ے مقصد شوروشو چه هغه تخویف اخروی دے یا دا عطف دے په ما قبل باندے په تقدیر سره یعنی ولله ملك السموات والارض اليوم ويوم تقوم الساعة . يَخْسَرُ خسران په اصل کښ په دنیا کښ دے لیکن ښکاره کیدل ئے په آخرت کښ دی . او وجه د خسران دا ده چه دوی خپل حیات او عقل او صحت او فراغ چه په شان د راس المال وو خرچ کړیدی او ځان ئے ستړے کړے دے په دے اراد ے سره چه مونږ ته گټه حاصله شی لیکن د قیامت په ورځ به دوی ته شرمندگی ذلت او عذابونه حاصل شی او د دے نهایت خسران او تاوان ویلے کیږی .

جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰ إِلَىٰ كِتَابِهَا ۖ الْيَوْمَ

جمع کړے شوے هر اُمت به را وبلے شی کتاب خپل ته نن ورځ

تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٢٨﴾ هَٰذَا كِتَابُنَا يَنطِقُ

بدله درکیدے شی تاسو ته دَ هغه عملونو چه تاسو کول ۔ دا کتاب زمونږ خبرے به کوی

عَلَيْكُم بِالْحَقِّ ۚ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ

په تاسو باندے په حق سره یقیناً مونږ لیکل به ملائکو باندے هغه عملونه چه تاسو

تَعْمَلُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ

کول ۔ نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے د سنت برابر کړے دی

فَيُدْخِلُهُمْ رَبُّهُمْ فِي رَحْمَتِهِ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ

نو داخل به کړی دوی رب دَ دوی په خاص رحمت خپل کښ دا کامیابی

الْمُبِينُ ﴿٣٠﴾ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا أَفَلَمْ تَكُنْ

ښکاره ده ۔ او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے (ورته به ویلے شی) ایا نه وے تاسو

سلا ۲۸ ۔ دا هم تخویف اخروی دے ۔ جَاثِيَةً جتوۃ جمع کیدلو ته ویلے کیږی نو کل امة عام دے مؤمنانو او کافرانو ته یعنی په قیامت کښ په ټول خلق را جمع وی او هر چا ته به دَ هغوی عملنامه ورکیدلے شی او بیا روستو فاما الذین امنوا اه تفصیل دے ۔ یا جاثیة په معنیٰ دَ (جلوس علی الرکب) دے په زنګنانو باندے کیناستل دَ وجے دَ رعب نه، نو ظاهر دا ده چه دَ کل امة نه مراد کافران مشرکان دی هغوی به په داسے حالت کښ دی. اِلیٰ کِتٰبِهَا مراد دَ دے نه هغه عملنامه ده چه ملائکو لیکلے ده لکه سورة اسراء سلا ۱۳ کښ یا مراد ئے دے نه هغه کتاب نازل کړے شویدے چه دوی اوګوری چه دوی په هغے باندے په کوم ځائے باندے عمل کړے دے ۔ اوله توجیه غوره ده ځکه چه دَ هغے په تائید کښ نور ایاتونه هم دی۔

سلا ۲۹ ۔ دا قول دَ ملائکو یا دَ الله تعالیٰ دے او یَنطِقُ یعنی هغه کتاب به خپله شهادت ورکړی په دلیل دَ حٰم سجده سلا ۲۱ سره یا دا چه دوی به ئے اوګوری او دَ دوی عملونه پکښ لیکلے شوے وی نو داسے شوه ګویا که هغه کتاب ناطق شو لکه سورة مؤمنون سلا ۶۲ او سورة کهف سلا ۴۹ کښ ۔ نَسْتَنسِخُ په صیغه دَ استفعال سره ذکر شو یعنی الله تعالیٰ امر کاوه ملائکو ته دَ لیکلو

سلا ۳۰ سلا ۳۱ ۔ په اول ایت کښ بشارت دے او مراد دَ رحمت نه جنت دے ۔ هر کله چه دَ

اٰيٰتِيْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ فَاسْتَكْبَرْتُمْ وَكُنْتُمْ

ایاتونه زما چه لوستلے کیدل په تاسو باندے نو لوئی کوله تاسو او وئے تاسو

قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۱﴾ وَاِذَا قِيْلَ اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ

قوم جرم کوؤنکی ۔ او کله به چه اُویلے شول یقیناً وعده د الله تعالیٰ

حَقٌّ وَّالسَّاعَةُ لَا رَيْبَ فِيْهَا قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ

حقه ده او قیامت چه هیڅ شک نیشته په هغے کښ ۔تاسو به ویل موتږ نه پوهیږو

مَا السَّاعَةُ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا وَّمَا نَحْنُ

قیامت څه دے گمان نه کوو موتږ مگر معمولی گمان او نه یو موتږ

بِمُسْتَيْقِنِيْنَ ﴿۳۲﴾ وَبَدَا لَهُمْ سَيِّاٰتُ مَا عَمِلُوْا

یقین کوؤنکی ۔ او ښکاره به شی دوی ته ناکاره (عقوبتونه) د عملونو ئیدوی

مبطلینو خسران ئے ذکر کړے وؤ نو د هغے مقابله کښ ئے د مؤمنانو فوز مبین ذکر کړو او په دویم ایت کښ تخویف دے او ذکر د اسبابو د عذاب دے اول استکبار د ایاتونه مخه ایات وحیه او عقلیه چه په دے سورت کښ ذکر شویدی د هغے نه دوی لوئی کوله لکه چه د دے سورت ابتداء کښ ثم یصر مستکبرًا ذکر شو یدی دویم سبب د عذاب جرمونه کول یعنی د کفر او د شرک عملونه کول.

۳۲:۔ دادریم سبب د عذاب دے یعنی انکار کول د بعث بعد الموت نه۔ قُلْتُمْ مَّا نَدْرِيْ دا اقرار دے په لوئے جهل جهل سره څکه چه نفی د درایت په هغه ځائے کښ استعمالیږی چه د علم حاصلولو د پاره هیڅ ذریعه نه وی۔ اِنْ نَّظُنُّ اِلَّا ظَنًّا۔

سوال:۔ په دے کښ استثناء د ظن ده د ظن نه او دلته استثناء خو صحیح نه وی؟

جواب:۔ اوله توجیه دا ده چه مصدر نکره (ظنا) کښ تحقیر او تقلیل مراد دے یعنی الا ظنا حقیرًا او قلیلا (مگر گمان سپک او لږ) دویمه توجیه دا ده چه په اصل کښ ان نحن الا نظن ظنا دا مبرد ویلے دی (نه یو موتږ مگر گمان کوو گمان)۔ دریمه توجیه دا ده ان نظن (علیکم) الا تظنون ظنا (گمان نه کوو موتږ په تاسو باندے اے مؤمنانو مگر دا چه گمان کوئے تاسو گمان په باره د قیامت) څلورمه توجیه شربینی ویلے دی چه نظن په معنیٰ د نعتقد دے ان نعتقد ما تخبر وننا به الا ظنا (موتږ عقیده نه لرو د هغے خبر چه تاسو موتږ ته راکوؤ مگر گمانی څیز)۔ وَمَا نَحْنُ بِمُسْتَيْقِنِيْنَ (پاتے به بل مخ)

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۳۳﴾

او راګير به کړي دوی لره هغه څيز چه دوی په هغې پورې ټوقې کولې۔

وَقِيْلَ الْيَوْمَ نَنْسٰكُمْ كَمَا نَسِيْتُمْ لِقَآءَ

او به ويلې شي چه نن پريږدو موږ تاسو لره لکه چه پريښودلې وو تاسو ملاقات

يَوْمِكُمْ هٰذَا وَمَاْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ

دَ ورځې ستاسو چه داده او ځائې دَ اوسيدلو ستاسو اُور دے او نيشته تاسو لره

مِّنْ نّٰصِرِيْنَ ﴿۳۴﴾ ذٰلِكُمْ بِاَنَّكُمُ اتَّخَذْتُمْ

هيڅ مددګاران ۔ دا دَ دے وجے نه چه نيولے وو تاسو

اٰيٰتِ اللّٰهِ هُزُوًا وَّغَرَّتْكُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

اياتونه دَ الله تعالىٰ ټوقې او دهوکه کړی وئے تاسو ژوند دُنيوی

فَالْيَوْمَ لَا يُخْرَجُوْنَ مِنْهَا وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُوْنَ ﴿۳۵﴾

نو نن به نشی د يستلے کيدلے دوی دَ اُور نه او نه به دَ دوی توبه قبوله کړے شی۔

دا تاکيد دَ مخکښ دَ پاره دے۔

فائده:۔ منکرين دَ قيامت دوه ډلے وے يو ډله هغه وه چه هغوی دَ قيامت نه
صريح انکار کوؤ دَ هغوی ذکر په ۲۴ کښ تير شو او دويمه ډله هغه وو چه هرکله دليلونه
ئے واوريدل دَ بعث بعد الموت نو په شک کښ پريوتل په دے ايت کښ دا خلق مراد دی
۳۳:۔ دا هم تخويف کښ داخل دے او دا عطف دے په پټ باندے يعنی واما الذين
کفروا فيقال لهم اه ويدالهم۔ يَسْتَهْزِءُوْنَ معلومه شوه چه دوی ويل ان نظن الا ظنا اه
دا دَ شک په طور باندے نه وؤ بلکه دَ استهزاء په طريقه باندے وؤ دَ دے وجے نه
دوی دَ عامو منکرينو نه ډير ناکاره دی۔
۳۴:۔ دا هم داخل دے په تخويف کښ او دا عطف دے په بدا او حاق باندے او
نَنْسٰكُمْ اشاره ده هميشه والی دَ عذاب ته يعنی لکه څنګ چه منکرينو ايمان په بعث
باندے بالکل هير کړے وؤ اوکه دَ دوی ژوند بالفرض هميشه وے نو دَ دوی دا
انکار او هيرول به هم هميشه وے نو دَ دے وجے نه عذاب به ئے هم هميشه وی۔
۳۵:۔ دا سبب نه ذکر کوی دَ پاره دَ ماقبل يعنی مَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ يو سبب استهزاء
په اياتونو وحيه او عقليه پورے کوم چه په دے سورت کښ ذکر شول او دويم

فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رَبِّ السَّمٰوٰتِ وَرَبِّ الْاَرْضِ

تو خاص الله تعالیٰ لره ستائینه د خدائیتوب ده رب د اسمانونو او رب د زمکې دے

رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۳۶﴾ وَلَهُ الْکِبْرِیَآءُ فِی السَّمٰوٰتِ

رب د ټولو عالمینو دے . او خاص هغه لره لوئی ده په اسمانونو

وَالْاَرْضِ ص وَهُوَ الْعَزِیْزُ الْحَکِیْمُ ﴿۳۷﴾ ع

او زمکه کښ او خاص هغه زور اور حکمتونو والا دے .

غفلت په سبب د حرص او محبت د دُنیا چه د هغې د وجے نه قیامت یې هیر کړو
لَا یُخْرَجُوْنَ یعنی الله تعالیٰ یې هم نه اوباسی او نور شفعاء شرکاء یې هم نشی ویستلے
وَلَا هُمْ یُسْتَعْتَبُوْنَ د عتاب نه ماخوذ دے مراد تری نه ازاله د عتاب ده د الله تعالیٰ سره په
عذر قبلولو سره یا د عتبیٰ نه ماخوذ دے رجوع کول یعنی طلب د توبے په تری نه نشی کیدلے.
سلا ۳۶ سکـ ۳۷ :. دا هم دلیلونه عقلیه دی سره د دعوے د توحید نه . او دا رنګ دا تفریع
ده په مضمون د ټول سورت باندے یعنی الله تعالیٰ په ایاتِ وحیه او عقلیه سره
شریعت واضح کړے دے نو د الله تعالیٰ حمد واجب دے په مخلوق باندے .
رَبِّ السَّمٰوٰتِ اه اشاره ده چه اسمانونه زمکه او ټول مخلوق باندے د ربوبیت انعام دے
د الله تعالیٰ د طرف نه نو په ټولو باندے حمد د الله تعالیٰ واجب دے . وَلَهُ الْکِبْرِیَآءُ
په دے سره وهم د شرکت دفع کوی چه د الله تعالیٰ په حمد کښ څوک شریک نشی
کیدے ځکه چه کبریاء په الله تعالیٰ پورے خاص ده یعنی عظمت جلال ، بقاء ،
سلطان ، قدرت ټول په الله تعالیٰ پورے خاص دی نو بل څوک د هغه سره په حمد
او صفاتو کښ شریک نشی کیدلے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی چه الله تعالیٰ
فرمائیلی دی . اَلْکِبْرِیَآءُ رِدَائِیْ وَالْعَظَمَةُ اِزَارِیْ فَمَنْ نَازَعَنِیْ وَاحِدًا فِیْهِمَا اَدْخَلْتُهُ النَّارَ
وَفِیْ روایته عَذَّبْتُهٗ وفی روایة قَصَمْتُهٗ (لوئی زما څادر دے او عظمتِ شان زما لنګ دے
نو چا چه ما سره په دے یو کښ جګړه اوکړه یعنی ځان ته یې را کاګړی نو زهٔ به یې
اور ته داخل کړم بل روایت کښ دی عذاب به ورکړم بل روایت کښ دی سته به
یې مات کړم) (والحمد لله حمدًا کثیرًا طیبًا مبارکًا فیه)

ختم شو تفسیر د سورت جاثیه بحمده تعالیٰ و توفیقه .

اوخلورم جلد اختتام ته اورسیدو ـ ۱۵/ صفر ۱۴۱۶ ھ

احسن الکلام

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسير

أحسن الكلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء الثامن

اتم جزء

دسورة الاحقاف نه ترسورة التحريم پورے

الناشر:
جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة
بډه بېر - پشاور

آیاتها ۳۵ / رکوعاتها ۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ مَكِّيَّة ۴۶ / ۶۶

حٰمٓ ۝۱ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ۝۲

الله تعالیٰ ته دے په مراد ښه پوهیږی۔ نازلول دَ دے کتاب دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دی چه زورا ور حکمتونو والا دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے وجه اول داده چه په هغه سورت کښ امر په اتباع دَ شریعت سره وُو نو په دے سورت کښ تصدیق دَ شریعت په اثبات دَ صدق دَ نبی او دَ صدق دَ قرآن سره ذکر کوی۔ دویمه وجه داده هغه کښ سورت کښ آیات عقلیه او وحییه ذکر شول په توحید باندے نو په دے سورت کښ په هغے باندے تفریع ده په رد دَ شرك فی القدرة والعلم سره۔ دریمه وجه داده چه په هغه سورت کښ تخویف اخروی ذکر شوید ے او په دے سورت کښ تخویف دنیوی ذکر کوی په واقعه دَ عادیانو سره او ورسره داهم ذکر کوی چه داعذابونه دَ دے مشرکانو آلهه من دون الله تعالیٰ نشی دفع کولے۔

دَعویٰ دَ سورت۔ رد دے په شبهه دَ مشرکانو باندے چه معبودان من دون الله وسیلے گنړی او سبب دَ نجات ورکولو ئے گنړی نو په ۲۸ کښ دَ هغے جواب کوی په اثبات دَ صدق دَ نبی او دَ قرآن نه په تردید دَ اقسامو دَ شرک کښ۔ شرك فی التصرف۔ او فی العلم او فی الدعاء او فی العبادة او اثبات دَ صدق دَ نبی او دَ قرآن دے په تصدیق کولو دَ جناتو سره۔

خلاصه دَ سورت داده۔ په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر ۱۵ پورے دے په دے کښ اول ترغیب الی القرآن دے بیا زجرونه دی اول زجر په اعراض کولو سره دَ آیات وحییه (قرآن) او عقلیه نه او دویم زجر په رد دَ شرک فی التصرف په طلب دَ دلیل سره دَ مشرکانو نه دریم زجر په رد دَ شرک فی العلم او فی الدعاء سره څلورم زجر په انکار دَ قرآن سره بیا صداقت دَ قرآن او دَ رسول ذکر کوی سره دَ دلیل نقلی دَ کتاب دَ موسیٰ علیه السلام نه بیا بشارت دے۔

تفسیر ۱ په دے آیت کښ ترغیب الی القرآن دے او اشاره ده ۳ آیاتو په بل مخ (

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا

نه دي پيدا كړي موږ اسمانونه او زمكه او هغه چه دَ دے په مينځ كښ دي مگر

بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا

په فائده او نيټې مقررے سره او كافران خلق دَ هغه څه نه چه دوى له پرے ويره وركيدے شي

مُعْرِضُوْنَ ﴿٣﴾ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

مخ گرځوونكي دي . ته اووايه خبر كړئ ما له په باره دَ هغه چا كښ چه تاسو ورته رابلئ دَ ما سوا

اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ

دَ الله تعالىٰ نه او ښائے ما ته هغه څه دي چه دوى پيدا كړيدى دَ زمكے دَ څيزونو نه ايا دوى لره شته دے

دَ سورت راتلونكے مضمون چه وحى دَ الله تعالىٰ ده څه بے دليله خبره نه ده .

سے په دے كښ اشاره ده چه راتلونكے مضمون دَ عقلى دليلونو سره هم برابر دے يعنى دا نظام علوى او سفلى او وسطى دلالت كوى په توحيد او په بعث بعد الموت باندے . وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا دا زجر دے په اعراض كولو سره عَمَّآ (ما) موصوله يا مصدريه دے .

سے په دے كښ طلب دَ دليل دے دَ معرضينو نه دَ دعوى په شرك باندے او زجر دے په شرك في التصرف باندے او هم دا سے تير شوى دى سورة فاطر سے كښ حاصل دا دے چه په زمكه كښ خلق يا په اسمان كښ شركت په تصرف كښ دليل دے په الوهيت باندے نو كه ستاسو الهو كښ دَ دے نه يو قدرت وى نو ادښائي . او دا دليل عقلى دے او كه دا سے نه وى نو دليل نقلى دَ كتاب دَ الله تعالىٰ يا دَ مخكښنو پيغمبرانو دَ اثارو ، احاديثو نه پيش كړئ په الوهيت دَ معبودانو ستاسو باندے مَا تَدْعُوْنَ سورة فاطر كښ دَ شركاء لفظ هم ويلے وو څكه چه په هغه سورت كښ مخكښ دَ شرك دَ مشركانو تفصيل كړے شوے دے . اِئْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مراد دَ دے نه منزل كتاب دے په قرينه دَ سورة فاطر سره چه په هغے كښ اتينا ويلے وو . من قبل هذا يعنى نازل شويدى مخكښ دَ قران نه چه هغه تورات ، انجيل ، زبور دى او هر كله چه دا كتابونه مشركانو ته نه دى وركړے شوى دَ دے وجے نه په دے ايت كښ اتينا نه دے ذكر كړے . او اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ نقل دے دَ عكرمه او مجاهد نه چه مراد دَ دے نه روايت نقل كړے شويدے دَ انبياء عليهم السلام نه چه هغے ته په اصطلاح دَ شرع كښ احاديث ويلے كيدے شى پديكښ اشاره ده

شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۭ اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ

برخه په اسمانونو کښی راوړئ ما ته کتاب (چه نازل شوی وی) مخکښی د دے کتاب نه

اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ④ وَمَنْ

یا رانقل کړے شوے دلیل (د مخکنو نه) که چرے تاسو رشتنی یئ . او څوک دے

اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ

زیات گمراه د هغه چا نه چه رامدد شه وائی سیوا د الله تعالٰی نه هغه چا ته چه نشی پوره کولے (حاجت)

لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ

د ده لره تر ورځ د قیامت پورے او دوی د هغوی د بللو نه

غٰفِلُوْنَ ⑤ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا

ناخبره دی . او کوم وخت چه راجمع کړیشی خلق نوشی به دوی هغوی لره دشمنان او دوی به شی

چه دلیل شرعی صرف کتاب الله وی یا احادیث د پیغمبر د دے نه بغیر په بل څیز سره صدق نه ثابتیږی د دے وجے نه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ئے ذکر کړو۔

سه دلیل هم زجر دے په شرک فی الدعاء والعلم باندے روستو د رد د شرک فی التصرف نه وَمَنْ اَضَلُّ دا استفهام (رټیوس) دے په طریقه د نفی سره او دا راجح په بشکاره خبره کښی د اَضَلُّ نه مراد کافر دے ځکه چه کفر اخری درجه د گمراهئ ده. مِمَّنْ يَّدْعُوْا د دعا نه مراد حاجت غوښتل او رامدد شه ویل دی په دے عقیده باندے چه دا حاجت روا او اختیارمند د نفع او ضرر دے او دا دعا اصل عبادت دے د دے وجے نه بعض مفسرینو د یدعوا په تفسیر کښی یعبد لیکلے دے. مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لفظ من دون الله خو ټول ماسوی الله ته عام دے که ژوندی وی او که مړه وی بتان وی او که روح والا وی اولیاء وی او که انبیاء وی او لفظ د مَنْ خاص دے په عقل والو پورے که مړه وی او که ژوندی نو دا بدل د خاص دے د عام نه او په دے کښی اشاره ده که څوک د بتانو بندگی کوی هم نو د هغوی مقصد بتان نه وی بلکه هغه شخص وی چه دا بت د هغه جوړ کړے شوے دے نو کوم خلق چه وائی چه په دے ایت او د دے پشان نورو ایاتونو کښی صرف بت پرستان مراد دی نو داسے (پاتے په بل مخ)

بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ⑥ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ

ذ بندګئ دَ هغوی نه انکار کوونکی. او کوم وخت چه اولوستلے شی په دوی باندے آیاتونه زمونږ ښکاره

قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۙ هٰذَا سِحْرٌ

نو وائی کافران په باره دَ حق کښ هر کله چه دوی ته راغے چه دا جادو دے

خلق دَ قرآن په حقیقت نه پوهیږی بلکه تحریف کوی. تفسیر ابن کثیر، قرطبی، سراج المنیر، خازن وغیره ټولو تصریح کړے ده چه دا آیت شامل او عام دے عابدانو دَ ملائکو او دَ عیسیٰ علیه السّلام او دَ پیریانو وغیره ته. لَا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ یعنی دَ دوی هیڅ حاجت نه شی پوره کولے نه ورله څه فائده وررسولے شی او نه ضرر او دا شامل دے د خبرے ته چه مړی دَ دے ژوند و دَ پاره دُعا هم نشی غوختلے که دوی ورته دُعا طلب کوی، ځکه چه دُعا غوښتل هم استجابت دے. اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ په دے کښ دیر تاکید دے یعنی مشرک د دا خیال نه کوی چه زما دُعا نے اوس قبوله نه کړه نو څه وخت روستو به قبوله کړی بلکه تر قیامته پورے نه شی قبلیدلے. او هرچه په قیامت کښ دے نو اګرچه حاجت روائی نه شی کولے لیکن مخاطبه به دَیو بل سره اوکړی لکه نور آیاتونو کښ ثابته شوے ده. وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ دَ غفلت نه مراد نه اوریدل دی لکه سورة یونس سـ۲۹ او سورة فاطر سـ۱۴ کښ تیر شویدی لفظ دَ هم او غافلون او صفت دَ غفلت هم دلالت کوی چه دا خاص نه دے په بتانو پورے. او دا معبودان دَ دعا نه ځکه غافل دی چه څوک لرے وی او څوک نژدے وی لیکن مړه دی او مړے خونه آوری او یا دا چه دَ مشرک آواز او دُعا وغیره ورته الله تعالیٰ نه آوری دغے تفصیل په سورة فاطر کښ تیر شوے دے.

سـ۷ لفظ دَ حشر او عداوت او کفر (انکار) هم دلیل دے چه دا آیت په باره دَ بتانو کښ نه دے مګر هله چه مجاز کیږی لیکن چه هر کله حقیقت کیدے شی نو مجاز مراد کول جائز نه دی كَانُوْا لَهُمْ ضمیر دَ کانوا معبودانو ته راجع دے او ضمیر دَ لهم عابدانو ته او دا رنګ وَكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ اول ضمیر معبودانو ته او دویم عابدانو ته راجع دے یعنی لکه دُشمن چه دُشمن سره خبرے نه کوی او براءت ترینه کوی دغسے به دا معبودان دَ دے عابدانو سره خبرے نه کوی او دَ هغوی دَ عبادتونو نه به انکار کوی لکه سورة یونس سـ۲۸ کښ او دا انکار دَ وجے دَ نا خبرئے نه دے.

مُّبِيْنٌ ۝٧ اَمْ يَقُوْلُوْنَ افْتَرٰىهُ ؕ قُلْ اِنِ افْتَرَيْتُهٗ فَلَا

بنسکاره . آیا دوی وائی چه دا یې دَ ځان نه جوړ کړیدے ته اووایه که چرے ما دَ ځان نه جوړ کړے وی نو

تَمْلِكُوْنَ لِيْ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِمَا تُفِيْضُوْنَ

وس نه لرئے تاسو ما لره دَ هیڅ کولو دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه هیڅ قسم . هغه ښهٔ پوهه دے په هغه خبرو باندے چه نوځئ تاسو

فِيْهِ ؕ كَفٰى بِهٖ شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ؕ وَهُوَ الْغَفُوْرُ

په هغے کښ پوره دے الله تعالیٰ گواه په مینځ زما او په مینځ ستاسو کښ او خاص الله تعالیٰ بخښونکے

الرَّحِيْمُ ۝٨ قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَآ اَدْرِيْ

رحم کوونکے دے . ته اووایه زه نه یم نوے رالیږلے شوے دَ قِسم دَ رسولانو نه او نه پوهیږم

سے دا هم بل زجر دے په انکار دَ قرآن سره یعنی هر کله چه دوی ته دَ توحید واضح آیاتونه (لکه دا تیر شوی دوه آیاتونه) اولوستلے شی نو دوی دا دروغ گنړی. لِلْحَقِّ دَ دے نه مراد دغه آیات بینات دی یا مراد دَ دے نه مضمون دَ هغے دے یعنی اثبات دَ توحید او رد دَ شرک. سِحْرٌ لکه جادو چه بے حقیقته خیالی څیزدی نو دوی (کافران) هم قرآن داسے گنړی یا سحر په معنیٰ دَ کذب او باطل دے لکه قاموس او نورو کتابونو دَ لغت کښ لیکلے دی.

سے دا بل زجر دے په انکار دَ قرآن سره دَ مخکښې نه ترقی ده ځکه چه دَ سحر په معنیٰ کښ بل چاته نسبت کول ماخوذ نه دی او دَ افْتَرَاء مراد دا دے چه دَ ځان نه یې دروغ جوړ کړے دی نو بیا یې الله تعالیٰ ته نسبت کړیدے . قُلْ په دے سره جواب ذکر کوی حاصل دَ جواب دا دے که بالفرض ما په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړ کړے وی نو هغه به ضرور ماله سزا راکړے وے لکه چه سورۃ الحاقه ۴۵ ۴۶ کښ شته او تاسو څو ما نه خلاصولے لکه الحاقه ۴۷ کښ . لیکن الله تعالیٰ ماله عذاب نه دے راکړے بلکه ما دَ پاره یې شهادت کړیدے تُفِيْضُوْنَ فِيْهِ افاضه نه مراد په خبرو کښ ننوتل او دَ هغے تکذیب کول او هغے ته سحر ویل دی . شَهِيْدًۢا بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ په دے کښ اشاره ده هغه آیاتونو ته چه هغے کښ دلیلونه دَ اثبات دَ صدق دَ قرآن او دَ رسول ذکر شوی دی هغه شهادتونه دَ الله تعالیٰ دی لکه سورۃ نساء ۱۶۶ رعد ۴۳ . وَهُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ زجاج ویلی دی چه دا دعوت او ترغیب دے توبے او استغفار ته مشرکینو او منکرینو ټولو ته.

مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ ۚ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا يُوْحٰٓى اِلَيَّ وَمَآ

په هغه کار چه کیږی به زما سره او تاسو سره (په دنیا کښی) زه تابعداری نه کوم مګر د هغه چه د حی کیږی ښی ماته او نه یم

اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ⑨ قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ كَانَ مِنْ

زهٔ مګر ویره ورکوونکے ښکاره - ته اوایه خبر راکړئ که چرے وی (دا قرآن) د طرف

ف ۹ په دے ایت کښی جواب د دوؤ شبهاتو دے چه ځکښی سره تعلق لری اوله شبهه دوی اویل چه ته مفتری د دے وجے نه یئ چه تا داسے دعوی کړے ده (یعنی د توحید او رسالت) چه ځکښی بل چا نه ده کړے دویمه شبهه دا ده که ته مفتری نه یئ نو مونږ ته زمونږ د غیبو د حالاتو خبر راکړه نو په دے ایت کښی علی الترتیب د دواړو شبهاتو جوابونه دی د اولے شبهے جواب قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ یعنی ماځه نوے مسئله د ځان نه داسے نه ده جوړه کړے چه د نورو رسولانو نه زه په هغې سره جدا شوے یم بلکه ما هغه مسئله د توحید او دعوی د رسالت پیش کړیده چه ځکښی رسولانو هم داسے پیش کړیوه -

بِدْعًا بدع او مبتدع په لغت د عرب کښی هر هغه نوے کار ته ویلے کیږی چه د هغې ځکښی مثال نه وی او د شریعت په اصطلاح کښی بدعت هر هغه څیز دے چه دلیل شرعی سره ثابت نه وی او شریعت ګرځولے شویوی که قول وی اوکه عقیده اوکه عمل وی او هیئت وی او که کیفیت وی اوکه مقدار وی اوکه وقت وی اوکه مکان وی په دلیل د حدیث صحیح سره مَن احدث فی امرنا هذا مالیس منه فهو ردٌّ نو لفظ د مآ دغه ټولو ته عام دے -

لَيْسَ مِنْهُ معنیٰ دا چه هغې د پاره دلیل په شرع کښی نه وی او د دے تقسیم حسنه او سیئه یا واجب مستحب وغیره نه نشی کیدے ځکه چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی کل بدعة ضلالة او کوم تقسیم چه بعض اهل علمو ذکر کړے دے روستو د ملو د هغې نه ویلے کیدیشی چه هغه تقسیمات په بدعة لغویه کښی دی - او د دویمے شبهے جواب

وَمَآ اَدْرِیْ مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ مراد د دے نه احوال دنیویه دی د حسن بصری نه مفسرینو نقل کړیدے چه دا په دنیا کښی دی او هرچه په اخرت کښی وی نو معاذ الله ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم ته علم وؤ چه دے بخلے شوے او جنتی دے نو د دُنیا د حالاتو په باره کښی نبی عالم الغیب نه دے دا علم ورته نه وؤ چه د مکے معظمے نه به ویستلے کیږی اوکه قتل کیږی اوکه نه او د امت په باره کښی عالم نه وؤ چه دوی به زما تصدیق کوی اوکه تکذیب او به دوی په عذاب راځی اوکه نه او څه رنګ عذاب

عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ

دَ الله تعالیٰ نه او انکار کوئے تاسو دَدهٔ نه او گواهی کړیده گواهی کوؤنکی دَ بنی

اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اسرائیلو نه دَ دے په مثل (کتاب) باندے نو هغه ایمان هم راوړے دے او تاسو لوئی کوئے، یقیناً (الله تعالیٰ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠﴾ ع وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

(توفیق) دَ هدایت نه ورکوی قوم ظلم کوؤنکو ته. او وائی کافران

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ؕ وَاِذْ

مؤمنانو (ته ئے او روی) که چرے دا حق دے نو مخکښ شوے به نه وُ دوی زمونږ نه دے ته او هر کله چه

به ورباندے راځی په دلیل دَ سورة اعراف ۱۸۸. او نمل ۶۵ انعام ۵۰ سره.

سوال: حدیث دَ ام العلاء الانصاریه کښ خو وارد دی (په یاره دَ عاقبت کښ) والله وانا رسول الله وما ادری مایفعل بی ولا بکم. جواب دا دے چه په دے روایت کښ صحیح الفاظ دا دی ما ادری مایفعل به لکه چه امام بخاری راوړے دے دارنګ قرطبی او ابن کثیر هم ویلے دی. اِنْ اَتَّبِعُ اه په دے روستو دواړه جملو کښ شان دَ رسول ذکر کړے شوے دے.

۱۰ دا هم زجر دے په انکار دَ قرآن سره دَ اثبات دَ صداقت دَ قرآن په شهادت سره اِنْ كَانَ دَ دے شرط جزاء دَ واستکبرتم نه روستو محذوف ده فقد ظلمتم. شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ غوره دا ده چه مراد دَ شاهد نه موسیٰ علیه السّلام او مثله نه مراد تورات دے یعنی موسیٰ علیه السّلام دَ تورات بیان کړے وُ چه دا کتاب دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نازل شوے دے او په هغے کښ مضمون دَ توحید او رسالت او بعث بعد الموت وُ. مِثْلِهٖ مراد دَ دے نه مما ثلت دے په نزول من الله کښ او په مضمون کښ او مماثل دَ قرآن نیشته په فصاحت او بلاغت کښ.

لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ ⑪

(پوهه نه لري پدے كتاب نو ضرور وائي دوي چه دا دروغ (جوړ كړے شوي) زاړه دي.)

وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ؕ وَهٰذَا

(او مخكښ دَ دينه كتاب دَ موسىٰ عليه السلام (نازل كړے شوي دے) پيشوا او رحمت. او دا)

كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۖ

(كتاب دے تصديق كوونكے دے ژبه عربي ده دَ پاره دَ دے چه ويره وركړي ظالمانو لره)

سلا دا يل زجر دے په منكرينو دَ قرآن باندے. او طريقه دَ انكار دا ده چه كوم صحابه كرامو ايمان راوړے وو نو اكثر فقراء مسكينان وو نو متكبرينو به ويل چه دوي خو كم عقل دي دَ دوي ايمان دليل دَ حقانيت او خيريت نه دے بلكه دا كه خير وي نو مونږ به دَ دوي نه وړاندِ مخے وے ځكه چه مونږ هوښيار يو. قرطبي دَ ماوردي نه نقل كړے دي چه دا معارضه خو واپس كيږي په دوي باندے ځكه هر مخالف يل ته ويلے شي كه ستا خبره حق وے نو مونږ به دَ هغے خلاف نه وے كړے او كه تكذيب دَ رسول خير وے نو تاسو به زمونږ نه مخكښ والے نه وے كړے ځكه چه كل حزب بما لديهم فرحون. آوس هم دشمنان دَ صحابه كرامو دا سے وائي او ابن كثير ويلے دي چه خوك اهل سنت والجماعة وي (دَ هغوي په زړونو كښ عزت او احترام دَ صحابه كرامو دے) نو هغوي وائي كُلُّ فِعْلٍ وَّقَوْلٍ لَّمْ يُثْبَتْ عَنِ الصَّحَابَةِ فَهُوَ بِدْعَةٌ لِاَنَّهٗ لَوْ كَانَ خَيْرًا لَّسَبَقُوْنَا اِلَيْهِ لِاَنَّهُمْ لَمْ يَتْرُكُوْا خَصْلَةً مِّنْ خِصَالِ الْخَيْرِ اِلَّا وَقَدْ بَادَرُوْا اِلَيْهَا (هر كار او وينا چه دَ صحابه كرامو نه ثابته نه وي نو هغه بدعت دے ځكه كه دغه خير نيك كار وے نو صحابو به زمونږ نه مخكښ كړے وے ځكه چه هغوي هيڅ خصلت دَ خير دَ خصلتونو نه پريخودے نه دے بلكه هغے ته ئے رواندے والے كړے دے) او دا جمله دَ رد دَ بدعاتو (عقيدةً او عملاً) دَ پاره پوره قانون دے لكه تاويل په صفاتو دَ الله تعالىٰ كښ. وسيلے په قبرونو والو سره. عُرس. عيد ميلاد النبي، حيله اسقاط او دَ جنازو بدعات وغيره كه دا نيك كارونه وے نو مونږ نه به مخكښ صحابه كرامو كړے وے. لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لام دَ خطاب دے نو ما سبقونا كښ التفات دے دَ خطاب نه غيبت ته. يا لام شانيه دے نو سبقونا په خپله معنىٰ سره دے. وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا الخ دا دليل دے چه خوك په يو څيز باندے پوهه نه وي نو تكذيب او خلاف ئے كوي.

وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ

او زیرے دَ پارہ دَ خائسته عمل کوونکو ۔ یقیناً هغه کسان چه وائی دوی رب زمونږ الله تعالیٰ دے

ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

بیا پاخه دی (په ایمان باندے) نو نشته هیڅ ویره په دوی باندے او نه به دوی غمژن کیږی ۔

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۚ جَزَآءً ۢ بِمَا

دغه کسان جنت والا دی همیشه به وی په هغے کښ بدله ورکیدلی دَ هغه

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا ۭ

چه دوی عملونه کول ۔ او یو حکم ورکړے دے مونږ انسان ته دَ مور او پلار سره دَ ښیګړے کولو

سلا دا دلیل نقلی او ترغیب دے قران ته اِمَامًا یعنی په هغے کښ دا سے دلیلونه دَ توحید او دَ صداقت دَ آخری رسول وو چه اقتداء دَ هغے ضروری وه وَرَحْمَةً یعنی په هغے کښ دا سے عقیده او مسائل او احکام وو چه هغه عین رحمت دَ الله تعالیٰ وو او دارنګ په هغے باندے عمل کول سبب دَ خاص رحمت دَ الله تعالیٰ وو او دلته عبارت کښ تقدیر دے یعنی دوی په هغے سره هدایت حاصل نه کړو بلکه خلاف او تکذیب ئے اوکړو۔ وَهٰذَا كِتٰبٌ دا ترغیب دے قران ته په ذکر کولو دَ دوه صفتونو دَ کمال او ذکر دَ دوه فائدو دے وَبُشْرٰى دا په معنیٰ دَ وَيُبَشِّرَ دے عطف دے په لینذر باندے لِلْمُحْسِنِيْنَ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه عمل کوی په قران باندے ۔

سلا سلا تر دے ایت پورے ذکر دَ حالاتو دَ منکرینو وو او هغوی ته زواجر او جوابونه وو اوس ذکر کوی صفات دَ مؤمنانو او هغوی ته بشارت دے او تفسیر دَ دے په سورة حٰمٓ سجدة سلا کښ تیر شو یدے هر کله چه په هغه سورت کښ مقام دَ دعوت کوونکو وو نو دَ هغے دَ اهمیت دَ وجے نه په بشارت کښ ډیر تفصیل وو او دلته اختصار دے ۔

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ

پورته کړے دے دهٔ لره مور دَ دهٔ په تکلیف سره او زیګولے دے دهٔ لره په تکلیف سره او پورته کول د دهٔ او د سینے نه بیلول د دهٔ

ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ حَتّٰۤى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ

دیرش میاشتے دی تر هغے پورے چه اورسی کلک والی ته او اورسی څلویښت

سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِىْۤ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِىْۤ

کالو ته نو وائی دے اے ربه زما توفیق راکړے ما ته چه شکر اوکړم دَ نعمتونو ستا هغه

اَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلٰى وَالِدَىَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا

چه تا پیرزو کړے دی په ما باندے او په مور او پلار زما باندے، او چه عمل اوکړم دَ سنت په برابر

تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِىْ فِىْ ذُرِّيَّتِىْ ؕ اِنِّىْ تُبْتُ اِلَيْكَ

چه ته ئے خوښ کړے او صلاحیت راکړے ما لره په اولاد زما کښ یقینًا ما توبه کړیده تا ته

وَاِنِّىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ

او یقینًا زهٔ دَ پوره حکمونو منونکو نه یم . دا هغه خلق دی چه قبلوو مونږ

سا ۱۵ دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخرِ دَ سورت پورے په دیکښ ذکر دَ دوه قسمه انسانانو دے اول قسم محسن دَ والدینو او الله تعالٰی ته توبه کوونکے او هغه ته بشارت دے او دویم قسم نافرمان دَ والدینو او مکذّب او هغه ته تخویف اخروی. بیا تخویف دنیوی په ذکر دَ واقعے دَ عادیانو دے او جواب دَ شبهے دَ مشرکانو چه الهه دَ دوی مدد نشی کولے. بیا دلیل نقلی دَ جن نه دَ پاره دَ تشجیع په دعوة الی القرآن او صداقة رسول او اثبات دَ قیامت او اختتام په تشجیع سره په صبر کولو او تخویف منکرینو ته.

ربط هر کله چه تیر شوی ایاتونو کښ دوه قسمه انسانان ذکر شول چه دَ نبی صلی الله علیه وسلّم او دَ قرآن په باره کښ څوک تکذیب دَ هغه کوی او څوک ئے تصدیق کوی نو اوس ذکر کوی دَ دواړه قسمو نه په باره دَ والدینو کښ او په دے کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلّم ته چه هر کله مور او پلار دَ انسان دَ پاره ظاهری قریبی احسان کوونکی دی لیکن بعضے اولاد ئے اطاعت کوی او بعضے ئے نافرمانی کوی نو دارنګ دَ نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښ هم دوه قسمه انسانان دی. په دے سا ۱۵ کښ ذکر دَ اول قسم دے.

وَوَصَّيْنَا داعطف دے په معنیٰ دَتیر شوی مضمون باندے یعنی مخکښې حکم دَ الله تعالیٰ دے په باره دَ اصولو دَ دین کښې نو اوس حکم دَ هغه دے په باره دَ والدینو کښې۔ اِحْسَانًا بنیکی کول دَ والدینو سره عام او مطلق دی او اطاعت دَ هغوی مقید دے په عدم معصیت پورے او احسان په قول او عمل او خدمت او خرچ کول په هغوی باندے په وخت دَ حاجت دَ هغوی کښې او امر بالمعروف او نهی عن المنکر په نرمه لهجه سره دے ټولو ته احسان شامل دے۔ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا هر کله چه دَ پلار دَ احسان اقرار (اکثر) مجبورًا کیدے شی دَ دے وجے نه چه دَ هغه نه ویره کیدے شی لیکن مور کمزورے وی نو دَ دے وجے نه انسانانو ته دَ مور تکالیف په تربیت کولو کښې درے قسمونه ذکر کوی. یو حمل، دوم وضع دَ حمل، دریم سینه ورکول او بیا دَ سینے نه پریکول او دَ هغے موده ئے ذکر کړے ده دوه نیم کاله نو معلومه شوه چه دَ مور حق په نسبت دَ پلار سره ډیر دے۔ كُرْهًا كِسائی او فراء وئیلے دی چه کرهًا په پیښ سره هغه تکلیف دے چه انسان ئے مخپله پورته کوی او په زوَر سره هغه دے چه په بل چا باندے تکلیف اچوی۔ او هر کله چه دَ دے تکلیفونو اثر دَ مور کمزورے کول دی دَ دے وجے نه سورة لقمان کښې دَ دے نه تعبیر کړے وَ په وهن سره۔ وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ دلته عبارت کښې تقدیر دے یعنی ومدة حمله ومدة فصاله ثلثون شهرًا روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما چه قرطبی او ابن کثیر وغیره راوړے دے دَ هغے مقصد دا دے چه دا دیرش میاشتے تقسیم دی په دواړه حالتونو باندے یعنی کله چه په حمل باندے نهه میاشتے تیرے شی نو رضاعت په یوویشت میاشتے وی او که حمل شپږ میاشتے وی نو رضاعت په دوه کاله وی علی هذا القیاس۔

نو هر کله چه رضاعت دَ دوه کالو نه زیاتی کول منع دی په دلیل دَ سورة بقره ۲۳۳ سره نو معلومه شوه چه دَ حمل دَ پیدائش کمه موده شپږ میاشتے دی دَ دے نه کم نشی کیدے او په دے کښې قرطبی واقعه دَ عثمان رضی الله عنه نقل کړیده چه یو زنانه دَ وخت دَ نکاح نه شپږ میاشتے روستو ولد راوړو نو هغه اراده اوکړه چه په دے باندے حد دَ زنا قائم کړی نو علی رضی الله عنه منع کړو او په دے آیت سره ئے دلیل پیش کړو او دا سے واقعه شریفی دَ ابوبکر او عمر رضی الله عنهما باره کښې هم ذکر کړیده۔ او هر کله چه دا دیرش میاشتے دَ دے دواړه حالتونو دَ پاره مشترکے دی لکه چه مخکښې بیان شو دَ دے وجے نه یو ځائے ذکر کړو۔ دویم قول قرطبی دا سے ذکر کړے دے چه عادةً موده دَ حمل نهه میاشتے ده او دَ رضاعت دوه کاله دی لیکن اول درے میاشتے دَ بچی دروند والے زیاتے په بل مخ

په ګېډه کښې نه محسوس کېږي او دَ حمل نه مراد درُوند والے دے دَ دے وجې هغې درے میاشتې اولنۍ ورسره شمار کړے نه دي - او په ایت کښې زیاته موده دَ حمل نه ده ذکر کړے دَ دے وجې نه په هغې کښې دَ ائمٰو ډېر اختلاف دے. درېم تفسیر مدارك کښې ذکر کړے دے چه دَ حمل نه مراد دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په نیز بانندے په لاسو کښې ګرځول دي او ثلثون شهرًا ټوله دَ رضاعت موده ده یعنی دوه نیم کاله. لیکن دا تفسیر ضعیف دے په څو وجوهو سره اول وجه دَ حمله نه دا معنیٰ مراد اخستل دَ صحابه کرامو تابعینو نه نقل نه ده دویمه وجه دَ امام صاحب نه دا روایت په ظاهر روایت یا نادر روایت کښې زمونږ په علم کښې نه دے ثابت شوے درېمه وجه دَ بچي په لاسونو کښې دَ ګرځولو دَپاره دَ مودے څه تعیین نیشته ځکه چه اکثر ګرځیدل دَ بچي دَ یو کال په عمر کښې شورو کیږي او دَ دوه کاله یا دوه نیم کالو نو بچي خو په منډه منډه په زمکه بانندے ګرځي په لاسونو کښې پورته کولو ته محتاج نه وي - څلورمه وجه دا چه دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په نیز چه موده دَ رضاعت دوه نیم کاله ده دا دَ ظاهر ایت دَ سورة بقره ۲۳۳ نه خلاف دے اګرچه په هغې کښې تاویلونه کیدے شي او ملا علي قاري شرح نقایه کښې ویلي دي چه فتویٰ په قول دَ صاحبینو باندے ده چه موده دَ رضاعت دوه کاله ده. حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ ، په عبارت کښې تقدیر دے یعنی استمرت حیاته یعنی ژوند ئې تیریږي تر دے پورے چه اورسیږي. اَشُدَّهٗ مراد دَ دے نه بلوغ دے یا اتلس کلونه یا دَ دیرش کلونو دَ دا اقوال مختلفه دَ مفسرینو دي. وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً اشاره ده چه عقل دَ انسان پوره کیږي په وخت دَ څلویښت کاله کښې نو که دَ دے نه روانے دَ هلکوالے یا دَ ځوانۍ په سبب چه غلط کارونه ئې کړے وي لیکن کله چه څلویښت کالو ته اورسیږي نو اسباب دَ ګناهونو ئې کمزوري شول او عقل ئې پوره شو اوس خو ضرور توبه اوباسي او شکر ګذار ئې ته ملا او تړي او دا هم خوش قسمتي دَ انسان ده - قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ په دے کښې اشاره ده چه اوس ئې پوره توجه شکر دَ الله تعالیٰ ته پیدا شوه لیکن انسان په شکر کولو کښې هم توفیق دَ الله تعالیٰ ته محتاج دے ځکه دُعا غواړي رب اوزعني وزع په اصل کښې تقسیم او برخې کولو ته وائي او الهام او توفیق دَ شکر خائسته برخه ده - اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ نظم الدرر کښې لیکلي دي چه لوے شکر دَ نعمت الهي توحید في العبادات دے.

وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ تَرْضٰىهُ تفسیر دَ صالح دے یعنی چه موافق وي دَ کتاب او سنت سره یا تَرْضٰىهُ په معنیٰ دَ قبولیت دے یعنی عمل اګرچه صالح وي لیکن

عَنْهُمْ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ

د دوی نه ډیر ښائسته عملونه چه دوی کړی دی او تیریدل کوؤ مونږ د ګناهونو د دوی نه

فِيْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ؕ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِيْ كَانُوْا

وی به دوی په جنت والو کښ، وعده د رښتین والی هغه چه کیدے شوه

يُوْعَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِيْ قَالَ لِوَالِدَيْهِ اُفٍّ لَّكُمَآ

وعده د دوی سره - او هغه څوک چه اُوبل ئې مور او پلار خپل ته افسوس دے په تاسو دواړو

اَتَعِدٰنِنِيْٓ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ

آیا ویره وئے تاسو ما لره چه زه به بیا راوُبستلے شم (د د زمکے نه) او حال دا چه تیر شوی دی ډیرے پیړئے زما نه

قبلول په اختیار د الله تعالیٰ کښ دی. وَ اَصْلِحْ لِيْ فِيْ ذُرِّيَّتِيْ صلاحیت د اولاد اشاره ده بقاء او اجراء د توحید او د عمل صالح ته په اولاد د ده کښ او صلاحیت د اولاد هم فائده ده د پاره د والدینو او هر کله چه دلته اجراء د صلاحیت مراد ده د دے وجے نه متعدی کړو په فِيْ سره. اِنِّيْ تُبْتُ اِلَيْكَ مراد دا چه هغه عوارض د ځوانۍ او غلبه د شهواتو چه ورسره د عقل کموالے هم وؤ د هغے نه تولونه ما رجوع اوکړه. وَاِنِّيْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ په توبه کښ صفاتِ سلبیه ته اشاره ده چه د نافرمانئ نه بچ کیدل دی او په المسلمین کښ صفات ثبوتیه ته اشاره ده یعنی پوره تابعداری کول.

سلا دا بشارت دے د پاره د دے قِسم کسانو او لفظ د اُولٰٓئِكَ دلیل دے چه دغه ایت محکمے خاص په یو شخص پورے نه دے لکه بعض مفسرینو سبب نزول کښ نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر کړے دے او بعضو ابوبکر رضی الله عنه. اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا مراد د دے نه ټول حسنات دی نو احسن په معنیٰ د هغه خیر دے چه په هغه کښ صفت د حسن وی یا احسن مقابل د حسن دے او حسن مباح ته ویلے کیږی چه نه په هغے کښ ثواب وی او نه عذاب. فِيْٓ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ حال دے په تقدیر د کائنین سره یا خبر د مبتدا پټ دے یعنی هم فی اصحاب الجنة - وَعْدَ الصِّدْقِ دا تیر شوے جملے په معنیٰ د وعدے کښ دی نو دا مفعول مطلق دے د تاکید د دغه مضمون د پاره او فعل ئې پټ دے. وَعَدَ اللّٰهُ وَعْدَ الصِّدْقِ او دا اضافت د موصوف دے یا اضافتِ بیانیه دے.

قَبْلِیْ ج وَهُمَا یَسْتَغِیْثٰنِ اللّٰهَ وَیْلَكَ اٰمِنْ ق صلے اِنَّ

مخکښې او دے دواړه فریاد کوي الله تعالیٰ ته ر دَ خوئي په باره کښې) تباه په شے ایمان راوړه یقینًا

وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ ج صلے فَیَقُوْلُ مَا هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِیْرُ

وعده دَ الله تعالیٰ رښتیا ده نو وائي نه دی دا مګر نقل شوے ردروغ) قصے

الْاَوَّلِیْنَ ﴿۱۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِیْنَ حَقَّ عَلَیْهِمُ الْقَوْلُ

دَ نورو خلقو دی . دا هغه کسان دی چه پوره شویده په دوی باندے فیصله دَ عذاب

فِیْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنَ الْجِنِّ وَ

ر داخلیږی) به په هغه ډلو کښې چه تیر شویدی دَ دوی نه مخکښې دَ پیریانو او

سنا دا ذکر دَ دویم قسم دے نافرمان دَ مور او پلار په مسئله دَ بعث بعد الموت کښې. یعنی صرف دَ نافرمان ذکر کول مقصد نه دے اګرچه دا هم ګناه دے بلکه هغه نافرمان دَ والدینو مراد دی چه په اسلامی عقیده کښې دَ مور او پلار مخالفت کوی او دا درجه دَ کفر ده او قرآن کریم کښې عادةً کامل وصف والا ذکر کیږی . اُفٍّ لَّکُمَآ تفصیل دَ دے سورة اسراء ۲۳ کښې تیر شویدے . وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ قَبْلِیْ دا دلیل دے دَ منکر دَ بعث چه مخکښې ډیر خلق تیر شویدی او اوسه پورے یو هم دوباره نه دے پیدا شوے او حال دا چه دا دلیل ئے باطل دے ځکه مدعا خو دا نه ده چه اوس په دنیا کښې خلق دوباره ژوندی کیږی بلکه دوباره ژوندیه په دَ دے دنیا دَ فنا نه روستو دی . وَهُمَا یَسْتَغِیْثٰنِ اللّٰهَ په دے کښې اشاره ده چه داعی الی الحق دَ پاره ضروری دی چه دَ دعوت سره دَ الله تعالیٰ نه دَ هدایت دَ خلقو دَ پاره دُعاګانے هم غواړی . وَیْلَكَ اٰمِنْ په دے جمله کښې تخویف او علاج دواړه ذکر کړی دی یعنی که ایمان رانوړے نو هلاک یه په شے او که ایمان دَ راوړو نو بچ به شے دَ هلاکت نه . اِنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ علت دَ ماقبل دے . فَیَقُوْلُ مَا هٰذَآ دا دویم طریقه دَ انکار دَ منکر ده یعنی مخکښې خلقو کښې هم دا خبره دَ قیامت ذکر شویده لیکن دروغ قصے دی .

فائده :- دا جمله اکثر دَ قرآن نه دَ انکار په باره کښې استعمال شویده لکه سورة انعام ۲۵ کښې خو فرق دا دے چه هلته مراد دا دے چه دا قرآن دَ مخکنو خلقو قصے دی لیکن دروغ دی او دلته مراد دا دے چه دَ قیامت خبرے مخکنو خلقو جوړے کړے دی .

الْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ⑱ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ

انسانانو نه یقیناً دوی دَ تاوان کارونه کول - او دَ هرچا دَ پاره درجے دی

مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ⑲

دَ وجے دَ عملونو دَ دوی ته او چه پوره ورکړی الله تعالیٰ دوی ته جزا دَ عملونو دَ دوی او په دوی باندے به هیڅ ظلم نشی کیدے

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَذْهَبْتُمْ

او په کومه ورځ چه پیش به کړے شی کافران په اور باندے (او به ویلے شی) ورکړے دی تاسو

طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ

خپلے مزے په ژوندا دنیوی ستاسو کښ او فائدے مو اخستلے دی په هغے سره

۱۸ دا تخویف اخروی دے د دویم قسم دَ پاره. اُولٰٓئِكَ دا دلیل دے چه دا ایت مخکنی عام دے خاص نه دے په عبدالرحمان بن ابی بکر یا عبدالله بن اُبیّ پورے لکه چه مفسرینو په سبب دَ نزول کښ هغوی ذکر کړے دی او بیضاوی او بقاعی رد کړے دے په هغه مفسرینو باندے چه چا سبب نزول عبدالرحمٰن بن ابی بکر گرځولے دے. الْقَوْلُ فیصله دَ عذاب چه لَاَمْلَـَٔنَّ جهنم الخ ده یا قول په معنیٰ د حجت دے یعنی دنیا کښ دَ مود او پلار یا دَ بل داعی الی الحق په واسطے سره په دوی باندے حجت قائم شوے دے. فِیْٓ اُمَمٍ په تقدیر دَ کائنین سره حال دے. امم قد خلت من قبلهم په دے کښ دَ دوی متبوعینو پیرانو او ملایانو گمراهانو ته اشاره ده.

۱۹ دا دَ فریقینو سره تعلق لری په طریقه دَ دفع کولو دَ وهم سره. وهم دا وو چه دَ دوی دواړو فریقو په مینځ کښ دَ فرق وجه څه ده؟ حاصل جواب دا دے چه سبب دَ فرق عملونه دَ دوی دی یعنی عملونه مختلف دی نو دَ دے په سبب درجات او جزا مختلفه ده. سوال:- درجات کښ معنیٰ دَ بره ختلو ده نو دَ دے اطلاق په جهنم باندے ولے کیږی؟ جواب:- دَ یو بل نه زیاتیدل په بره تللو یا په ښکته تللو سره دے ته درجات ویلے کیږی نو دَ جهنم په مرتبو باندے اطلاق کول صحیح دی یا دا اطلاق تغلیباً دے. وَلِيُوَفِّيَهُمْ دا علت دے دَ محذوف فعل یعنی جَزَاهُمْ بِالدَّرَجَاتِ لِيُوَفِّيَهُمْ. وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ظلم دَ اضدادو نه دے زیاتے کول په بدو کښ او نقصان کول په نیکو کښ دواړو ته شامل دے.

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ

نو نن په بدله درکیدلے شي تاسوته دَ عذاب دَ ذلت (سپک والي) په دے وجے سره چه تاسو

تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَ بِمَا كُنْتُمْ

لوئي کوله په ملک کښ په ناحقه سره او په دے وجه سره چه تاسو

تَفْسُقُوْنَ ۝۲۰ وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ؕ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ

حکمونه دَ الله تعالیٰ نه منل. او یادکره (دوی ته) رور دَ عادیانو. کله چه ویره ئې ورکوله قوم خپل ته

سبق: داتخویف اخروی دے اول سبب محرومیدل دَ طیباتو نه په آخرت کښ ذکر کوی اوهر کله چه پټول طیبات روک شي نو نتیجه ئې ذلت او سپکوالے وی دَ دے وجے نه فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ ئې په مخکښ متفرع کړو په حرف دَ فا سره بیا ئې دوه سببونه دَ عذاب دَ پاره ذکر کړل چه هغه په حقیقت کښ سبب دَ حِرمان دَ طیباتو او سبب دَ عذاب هون دی. اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ مراد دَ طیبات نه مزیدار خوراک ښائسته پوشاک دے چه زړه ئې غواړی نو حاصلوی یا مراد دَ دے نه ځوانی او قوتونه خرچ کول دی په مزو حاصلولو دَ دُنیا کښ او دَ آخرت دَ پاره هیڅ محنت نه دے کړے دویم قول دَ ضحاک نه نقل دے او اکثرو مفسرینو اول قول راوړے دے او په هغې کښ دَ عمر رضی الله عنه ډیر روایات نقل کړے شوے دی.

سوال: دَ دے نه معلومیږی چه استعمال دَ طیباتو ناروا دے او حال دا چه سورة اعراف ۳۲ کښ دَ هغې په تحریم باندے زجر ورکړے دے؟

جواب: اول جواب دا دے چه مراد دَ دے نه په استعمال دَ طیباتو کښ انهماک کول او دَ دے نه عادت جوړول دی نو هغه سبب جوړ شي دَ پاره دَ حرامو، لکه یو انسان ځان عادت کړی دَ مزے په خیزونو باندے نو کله چه هغه نه ملاویږی نو بیا دَ هغې دَ حاصلولو دَ پاره حرامے طریقې استعمالوی.

دویم جواب دا دے چه مراد دَ دے نه ترک دَ شکر دے یعنی دَ طیباتو استعمال ئې کوؤ او شکر ئې نه کوؤ. وَاسْتَمْتَعْتُمْ لفظ په دے باندے دلالت کوی یعنی دا طیبات ئې صرف دَ دنیا دَ پاره استعمال کړے دی دین او آخرت ئې هیر کړے دے.

فائده: دا آیت اگر چه صراحةً په باره دَ کافرانو کښ وارد دے خو بیا هم صحابه کرامو دَ دے نه خوف کوؤ دَ وجے دَ ډیرے تقویٰ نه نو کوم آیاتونه چه عام وی نو مؤمنانو له دَ هغې په باره کښ ضرور ویره پکار ده دا بهانه ډِ نه کوی چه دا زمونږ په باره

بِالْاَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ

په احقاف ځائے کښ او حال دا چه تیر شوی وو ډیره ورکوونکی مخکښ د ده نه

وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّیْٓ اَخَافُ

او روستو د ده نه (ریبا ے خبره) چه بندګی مکوئ د هیچا سیوا د الله تعالیٰ نه یقیناً ویریږم زه

عَلَیْکُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿۲۱﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَاْفِکَنَا

په تاسو باندے د عذاب د ورځے لوئے نه۔ دوی اوویل آیا ته راغلے ئے موږ ته د دے د پاره چه واړوے موږ

کښ نه دی نازل شوی۔

فائده :۔ د مخکښ بحث نه معلومه شوه چه د مزے خوراک څښاک بشرطیکه چه حلال دی منع نه دے لیکن د هغے د پاره تکلف کول او عادت کیدل منع دی بلکه سنت د نبی صلّی الله علیه وسلّم دا دے چه ځان یه ئے مړه وو هر کله چه خوراک په ملاؤ شو او صبر یه ئے کوؤ چه نه یه ملاویدلو۔ حلوی، غوښه چرګ ئے خوړلو کله چه په ملاؤ شو او کله ئے په اوچه ډوډئ، ستوان د اوبو سره، ډوډئ د اوربشو او په کجورو باندے اکتفاء کړیده دغه رنګ په لباس کښ هم نو مسلمان لره په دے سنت باندے عمل پکار دے سره د شکر نه په نعمت باندے او سره د صبر نه په تکلیف باندے۔ بِمَا کُنْتُمْ تَسْتَکْبِرُوْنَ اه استکبار په عقیده کښ دے په ارتکاب د شرک او کفر سره او فسق په عملونو کښ دے۔
۲۱ دا دلیل نقلی دے د پاره د تسلئ ورکولو نبی صلّی الله علیه وسلّم ته لکه چه وَوَصَّیْنَا الْاِنْسَانَ اه کښ هم تسلی وه۔ او دا رنګ دا د تخویف دنیوی یو مثال دے مشرکینو مکذبینو ته د پاره د عبرت اغستلو۔ او تخصیص د عادیانو په ذکر سره د دے وجے دے چه د دوی بدنونه هم قوی وو پادشاهی ئے هم وسیع وه۔ سرکشی ئے هم ډیره وه د دے وجے نه ئے ویل مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً او ایا دے ئے هم پخے وے لیکن سره د دے دومره قوت نه هغوی د عذاب د الله تعالیٰ نه بچ نه شول نو دا مشرکین مکه او نور کافران به څه رنګ بچ شی۔ اَخَا عَادٍ هغه هود علیه السّلام وو چه د عادیانو نسبی رور وو او په دے تعبیر کښ اشاره ده چه څوک د رور خبره نه منی نو د پردی سړی خو بالکل نه منی۔ بِالْاَحْقَافِ جمع د حقف ده د شګو ډیرے ته ویلے کیږی چه اوګده او غټه وی لیکن غر تر ینه نه وی جوړ شوی او دا یو علاقه ده د عمان نه تر مهره پورے۔ یقاتی ویلے دی چه دا سے ډیرے د شګے چه کومه (باقی په بل مخ)

عَنْ اٰلِهَتِنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنْ كُنْتَ مِنَ

دَ بندگئ دَ معبودانو زمونږه نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چه وېروے ته مونږه که چرے ئې دَ

الصّٰدِقِيْنَ ﴿۲۲﴾ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَاُبَلِّغُكُمْ

رشتينو نه - دهٔ اُوئيل يقيناً علم (دَ عذاب) دَ الله تعالىٰ سره دے او رسوم تاسو ته

مَّاۤ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَلٰكِنِّيْۤ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿۲۳﴾

هغه پيغام چه راليږلے شوے يم په هغے سره او ليکن زه وينم تاسو لره داسے قوم چه ناپوهي کوئے.

علاقه کښې وی نو په هغے کښې عادة سختے سيلے نه راځي. نو معلومه شوه چه په دوی باندے دَ سيلے عذاب خارق للعادة وو. وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ اه داجمله معترضه ده او په دے کښې اشاره ده ماکنت بدعا من الرسل ته چه په دے سورت کښې زمونږ دَ نبی صلّی الله عليه وسلّم په باره کښې تير شوے دے يعنی ټول رسولان هم په دے صفت کښې شريک دی. اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ اشاره ده چه پرهٔ ورکوُنکی اگرچه ډير وی ليکن مدعا ئې يوه ده چه مسئله دَ توحيد ده يعنی دا اتفاقی مسئله ده اِنِّيْۤ اَخَافُ په ديکښې تخويف دے په وخت دَ اعراض کولو کښې دَ توحيد نه۔

۲۲ په دے کښې انکار دَ هغوی ذکر کړے دے او انکار دَ دوی متعلق دے دَ هغه مسئلے سره چه الا تعبدوا الا اياه يعنی په دے مسئلے سره ته مونږ لره زمونږ دَ الهؤ دَ تعظيم او دَ بندگے نه اړوے۔ لِتَاْفِكَنَا په دے کښې دوی اشاره کوله چه دا الهول دَ الهو نه هم په دهوکه او په دروغو سره دی فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ دا متعلق دے دَ اِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ اه سره۔

۲۳ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ دا جواب دے دَ هغوی دَ دے قول فَاْتِنَا اه او دا جواب دے په ترقئ سره يعنی عذاب راوستل خو لرے خبره ده بلکه ما سره دَ هغے علم هم نيشته چه کله به وی او څه رنگ به وی او په دے کښې مقصد اظهار دَ شان دَ رسول دے چه هغه غيب دان نه وی بلکه دَ هغه صفت دا دے وَاُبَلِّغُكُمْ مَّاۤ اُرْسِلْتُ بِهٖ چه مسئله دَ توحيد او تخويف بالعذاب دے۔ تَجْهَلُوْنَ شرک کول، عذاب په تادئ سره غوښتل، عذاب په اختيار يا په علم دَ پيغمبر کښې گنړل دا ټول دَ جهل کارونه دی۔

فَلَمَّا رَاَوۡهُ عَارِضًا مُّسۡتَقۡبِلَ اَوۡدِیَتِهِمۡ ۙ قَالُوۡا هٰذَا

پس هرکله چه دوی اولیدله پلنه وریځ چه مخامخ راتلله د دوی میدانونو ته دوی اُویل دا

عَارِضٌ مُّمۡطِرُنَا ؕ بَلۡ هُوَ مَا اسۡتَعۡجَلۡتُمۡ بِهٖ ؕ رِیۡحٌ

پلنه وریځ ده چه باران اُوروی په موږ باندے (داپلے شو) بلکه دا هغه څیز دے چه تاسو پے تلوار غوختلو. دا سیلۍ ده

فِیۡهَا عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ﴿۲۴﴾ تُدَمِّرُ کُلَّ شَیۡءٍۭ بِاَمۡرِ رَبِّهَا

په دے کښ عذاب دردناک دے هلاکوی هر څیز لره په حکم د رب د دے

فَاَصۡبَحُوۡا لَا یُرٰۤی اِلَّا مَسٰکِنُهُمۡ ؕ کَذٰلِکَ نَجۡزِی

نو صبا کړو دوی پداسے حال چه نه ښکاریدل سیوا د کورونو د دوی نه دغسے بدله ورکوؤ موږ

الۡقَوۡمَ الۡمُجۡرِمِیۡنَ ﴿۲۵﴾ وَ لَقَدۡ مَکَّنّٰهُمۡ فِیۡمَاۤ اِنۡ مَّکَّنّٰکُمۡ

قوم مجرمانو ته . او یقینًا طاقت ورکړو موږ دوی ته په هغه څیزونو کښ چه نه دے ورکړے موږ تاسو ته طاقت

۲۴ تا ۲۵ دا ذکر د عذاب د هغوی دے په تفصیل سره فَلَمَّا رَاَوۡهُ (ره) ضمیر عذاب یا
ماتعدنا ته راجع دے ۔ عَارِضًا صفت دے د موصوف محذوف سحابًا عارضًا ۔
قَالُوۡا هٰذَا اه مفسرینو لیکلی دی چه د دوی باران څه موده بند شوے وؤ نو هر
کله چه دوی وریځه اولیدله نو دوی د خپل عقل موافق په هغې باندے خوشحالی
ښکاره کړه چه اوس به باران اوشی ۔ یعنی د خپلو بد اعمالو د سزا هیڅ خیال ئے هم
اونکړو ۔ بَلۡ هُوَ مَا اسۡتَعۡجَلۡتُمۡ بِهٖ دا قول د الله تعالیٰ دے په واسطه د هود علیه السلام
سره یا دا په زبان حال سره دے ۔ او استعجال د دوی په دے لفظ سره تیر شو
فاتنا بما تعدنا ۔ رِیۡحٌ یعنی هغه وریځ نه ده بلکه د سیلۍ طوفان وؤ چه اسمان ئے پټ
کړیوؤ د وریځ پشان ښکاره کیدله ۔ تُدَمِّرُ کُلَّ شَیۡءٍ دمار پوره هلاکت چه ناګهه وی کل
شی نه مراد هغه دے چه اَتَتۡ عَلَیۡهِ لکه سورت ذاریات ۴۲ کښ ۔ او د کُلَّ شَیۡءٍ نه د
هود علیه السلام او د هغه د ملګرو خارج کیدل خارق للعادة وؤ ۔ بِاَمۡرِ رَبِّهَا اشاره ده
چه اسباب تاثیر نه شی کولے بغیر د امر د الله تعالیٰ نه ۔ کَذٰلِکَ دا تخویف دے روستو
مجرمانو ته او کذٰلک کښ تشبیه عامه ده که په اصل عذاب کښ وی او که په نوع
یا جنس د هغه کښ ۔

فِيْهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۖ فَمَآ

په هغې کښې او ورکړي وو دوی لره غوږونه او سترګې او زړونه نو

اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ

وا نه ړوو دَ دوی نه غوږونو دَ دوی او نه سترګو دَ دوی او نه زړونو دَ دوی

مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

هیڅ حصه (دَ عذاب نه) ځکه چه دوی انکار کوو دَ اٰیاتونو دَ الله تعالیٰ نه

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾ وَلَقَدْ

او راګیر کړو دوی لره هغه څیز چه دوی دد پورې ټوقې کولې - او یقیناً

س۲۶ په دے کښې خطاب دے موجوده مجرمانو ته او ذکر کوی دَ عادیانو دوه قوتونه او بیو سبب دَ عذاب او اشاره ده چه په هیڅ قوت دَ دوی سره عذاب نه شو دفع کیدلے. یو قوت تمکین دے مراد دَ دے نه یا خه مکانونه غټ بدنونه ډیر مالونه دی اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ اِن نافیه دے یعنی موجوده خلقو سره دومره قوت نیشته او بقاعی ویلي دی چه په اِنْ کښې مبالغه دَ نفی ده په نسبت دَ ما سره. او دویم قوة وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا اه په دے کښې اشاره ده قوة باطینه ته لکه فهم، ادراك، او هوښیاری په دنیوی کارونو کښې او دا رنګ دا اسباب وو دَ حق معلومولو دَپاره. فَمَآ اَغْنٰى اه یعنی هر کله چه دا حواس دوی دَ حق دَ پاره استعمال نه کړل بلکه صرف دَ دنیاوی علوموا و تجربو دَپاره ئے استعمال کړل نو په هغې سره عذاب دَ الله تعالیٰ دفع نه شو. او هر کله چه علمی قوت دَ مالی قوت نه مضبوط دے او په علمی قوت سره دوی ته فائده او نه رسیدله نو په مالی قوت سره خو په طریقه اولیٰ عذاب نه شی دفع کیدلے دَ دے وجے نه عدم افاده دَ سمع او بصر وغیره کښې ذکر کړه او عدم افاده دَ تمکین ئے ذکر نه کړه دَ هغې ذکر ئے مقایسته پریخود. او سبب دَ عذاب ئے ذکر کړے دے په اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ اه سره نو معلومه شوه چه دَ اسبابِ الٰهیه په مقابله کښې هیڅ طاقت فائده نشی ورکولے.

أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ

هلاک کړے دی مونږ چاپیره ستاسو ته ددیر کلی او قسما قسم بیان کړے وُ مونږ آیاتونه

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۲۷﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا

دے دپاره چه دوی را اوګرځی د باطل نه۔ نو ولے مدد نه کوو د دوی سره هغه کسانو چه دوی جوړ کړی وُو

مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً ۖ بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ۚ وَ

سیوا د الله تعالیٰ نه د پاره د نزدیکت (الله تعالیٰ ته) معبودان۔ بلکه هیر شو د دوی نه او

ذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿۲۸﴾ وَإِذْ صَرَفْنَا

دا دروغ د دوی وُو او هغه خبرے چه دوی د ځان نه جوړولے۔ او کله چه راواړوله مونږ

ف۲۷ پدیکښې تخویف دنیوی دے په اجمالی طریقے سره مَا حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ اشاره
ده واقعے د ثمودیانو او قوم د لوط علیه السّلام او اهلِ مدین ته چه دوی حجاز والو ته
نزدے وُو۔ الْآيَاتِ دلیلونه، وعظونه، تخویفات او بشارات و غیره۔
ف۲۸ دا رد د شرك دے چه متفرع دے په مخکښې واقعه باندے او دا جواب د شبهے
د مشرکانو دے چه دوی وائی چه مونږ یا بابا رامداد شه یا شیخ عبدالقادر وغیره د
دے وجے نه وایو چه د دے په برکت سره زمونږ نه عذابونه مصیبتونه دفع کیږی
حاصل د جواب دا دے چه تیر شوی مشرکانو (عادیانو وغیرو) هم دا سے کول لیکن
هرکله چه په هغوی باندے عذاب راغے نو د دوی اِلهو د دوی سره امداد او نه کړو
الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً - د اتخذوا اول مفعول هُم ضمیر محذوف
دے چه راجع دے الذین ته او آلهة مفعول ثانی دے او قربانًا حال دے او بعض
مفسرینو ویلے دی چه قربانًا دویم مفعول دے او آلهة د هغے نه بدل دے یا
بیان دے لیکن زمخشری او قرطبی په دے باندے رد کړے دے۔ قُرْبَان هر هغه
څیز دے چه په هغے سره تقرب کیدے شی الله تعالیٰ ته۔ نو مشرکانو بزرګان او اولیاء
د الله تعالیٰ د نزدیکت د پاره وسیلے جوړے کړیدی دا رنګ سورة زمر ف۲ کښې
تیر شویدی۔ بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ضلال په معنیٰ د غائب کیدلو او په معنیٰ د هیریدلو
او په معنیٰ د غافل کیدلو دے دا نو لے معانی دلته صحیح کیږی۔ وَذَٰلِكَ اشاره ده
اتخاذ الآلهة ته إِفْكُهُمْ او بدل د توحید نه یا ذالك اشاره ده (پاتے په بل مخ)

إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا

تا ته یو ډله د پیریانو نه چه غوږ به یې کیښودلو قرآن ته پس هر کله چه

حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم

رانژدې شو نو دوی اوویل (یو بل ته) چپ شئ نو هر کله چه پوره شو لوستل روان شو دوی خپل قوم ته

مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ

(اراده کوونکی) د ویره ورکولو. دوی اوویل اے زمونږ قومه! یقیناً مونږ اوریدلے دے یو کتاب چه نازل کړے شوے دے

مِن بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي

روستو د موسیٰ علیه السلام نه تصدیق کوونکے دے د هغه کتابونو چه د ده نه مخکښ دی هدایت کوی

ضلال د الِهه ته او إِفْكُهُمْ کښ مضاف پټ دے یعنی اثر إِفْكِهِمْ. او هر کله چه د دوی دوه عقیدے ذکر شوے یو الِهه نیول یعنی هغوی لره بندګی کول دویم دعویٰ د تقرب الی الله کول نو د دے وجے نه دوه الفاظ یې ذکر کړل افك او افتراء او دا رنګ ایت په سورة هود ۱۰۱ کښ هم دے.

۲۹ دا دلیل نقلی دے د جناتو نه د پاره د اثبات د صداقت د رسول او د قرآن او په دے کښ تسلی هم ده نبی صلی الله علیه وسلم او دا رنګ په دے واقعه کښ ذکر د طریقے د دعوت دے چه اول علم د قرآن دے بیا دعوت دے قرآن ته بیا دعوت دے اطاعت او اجابت د رسول ته. دا واقعه په سفر د طائف کښ وه چه نبی صلی الله علیه وسلم بطن نخله کښ قرآن لوستلو نو جناتو واوریدل یا دا دعوت د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیریانو ته په لیلة الجن کښ ؤ او بیا د غه جنات نبی صلی الله علیه وسلم داعیان مقرر کړل د پاره د قوم د هغوی. نَفَرًا اوه کسان وو یا نهه کسان وو بعضے د نجران او بعضے د نصیبین وو یَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ طلب یې کوو د قرآن د اوریدلو یعنی د لرے نه آواز د لوستلو د قرآن یې تر غوږ شو ما ئله شول اوریدلو ته نو نژدے راغلل. أَنصِتُوا دا ادب د قرآن دے او د دے ادب د وجے نه په دوی باندے رحم اوکړے شو یعنی هدایت ورته نصیب شو او توفیق د دعوت ورته الله تعالی ورکړو لکه چه سورة اعراف ۲۰۴ کښ ذکر دے.

وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ یعنی دوی د هغه وخت نه په اراده د انذار د خپل قوم

إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا

حق طرف ته او نيغ لارے ته - اے قومه زمونږ قبول کړئ

دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَ

(دعوت) دَ دعوت کوونکي دَ الله تعالىٰ او ايمان راوړئ په ده بانداﻧدې بخښنه به اوکړي تاسو دَ ګناهونو ستاسو او

يُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ

پناهي به درکړي تاسو ته دَ عذاب دردناک نه - او چا چه قبول والے اونکړو (دَ دعوت)

سره روان شو او دا ادب دے دَ هر سړي دَپاره چه علم دَ قران او سنت حاصل کړي نو هغه دِ خپل قوم ته اورسوي او دا رنګ سورة توبه ۱۲۲ کښې هم ذکر دي -

۳۰ په دے ايت کښې ذکر دے دعوت کول دَ جنا تو قران کريم ته او دا خائسته طريقه دَ دعوت ده - مِنۢ بَعْدِ مُوسَىٰ دَ عيسىٰ عليه السّلام ذکر يې اونه کړو دَ دے وجه نه چه دوی دَ عيسىٰ عليه السلام نه نه وو خبر شوی يا دَ دے وجه نه چه دَ انجيل اصل هم تورات وو - يَهْدِيٓ إِلَى الْحَقِّ الخ مراد دَ حق نه صحيح عقيده ده چه امر يقيني او واقعي دے او مراد دَ طريق مستقيم نه اتباع دَ رسول ده يعني دَ قران حاصل دعوت دے توحيد او سنت ته او سورة جن ۱/۲ کښې هم دا سے ذکر کړي دي -

۳۱ په دے کښې دعوت دے تصديق دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم او اتباع دَ هغه ته - دَاعِيَ اللهِ مراد دَ دے نه رسول الله صلى الله عليه وسلم دے او دا دليل دے چه هغه دَ ټول انس وجن دَپاره رالیږلے شوے وو - وَآمِنُوا بِهِ دا تفسير دَ اجابت دے او ايمان ذکر دا هم خبر دے په اجابت کښې - يَغْفِرْ لَكُمْ الخ دَ اجابت دوه فائدے ذکر کړے دي - مِنْ ذُنُوبِكُمْ مِنْ دَپاره دَ تعميم دَ انواعو دَ ګناهونو دے يعني دَ هر قسم ګناهونو نه بخښنه کوي په سبب دَ ايمان سره يا مِنْ دَپاره دَ تبعيض دے يعني هغه ګناهو نه بخښش کوي کوم چه دَ ايمان راوړلو نه مخکښې وي - او دا اشاره کيدا يشي چه جنت ته به يې داخلوي ځکه چه ګناهو نه مانع وو دَ دخول دَ جنت نه نو چه هغه يې اوبخل نو جنت ته دَ داخليدلو نه مانع پاتے نه شو او دا مسئله اختلافيه ده چه جنات به جنت ته داخليږي او که نه - صحيح دا ده چه ددوی حکم هم پشان دَ انسانانو دے او دَ استحقاق دَ جنت دَپاره چه کوم دليلونه دَپاره دَ بشر دي نو هغه دوی ته هم شامل دي -

دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ وَلَيْسَ

دَ دعوت کوونکي دَ الله تعالیٰ نو نه دے عاجز کيدونکے دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه په ټول ملک کښ او نيشته

لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ؕ اُولٰٓئِكَ فِي ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾

دَ ده لره سيوا دَ الله تعالیٰ نه مددګاران دغه کسان په ګمراهۍ ښکاره کښ دي۔

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

آيا او دوی نه ګوري چه يقيناً الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پيدا کړيدي آسمانونه او

الْاَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰٓى اَنْ

زمکه او نه دے ستړے شوے په پيدائش دَ هغې سره قدرت لرونکے دے په دے خبره باندے

يُّحْيِيَ الْمَوْتٰى ؕ بَلٰٓى اِنَّهٗ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾

چه ژوندي به کړي مړي ! هاؤ يقيناً هغه په هر څيز باندے قدرت لرونکے دے۔

۳۲ دا زجر او تخويف دے په ترک دَ اجابت دَ رسول صلی الله عليه وسلم سره. فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ په دے کښ اشاره ده عذاب الٰهی ته وَلَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ اشاره ده چه بزرګان وغيره هم دَ دوی امداد نه شی کولے يعنی نه په خپل زور سره بچ کيدے شي او نه دَ بل چا په امداد سره. اُولٰٓئِكَ په دے ځائے کښ دوه همزګان په ضمے سره جمع شو يدی همزه دَ اولياء او همزه دَ اولٰئك دا په قرآن کښ بل ځائے کښ نيشته۔

۳۳ په دے آيت کښ زجر دے منکرينو دَ قيامت ته چه دوی سره دَ علم نه په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے انکار کوی دَ بعث نه او دا تفسير دَ ضلال مبين دے کوم چه مخکښ آيت کښ ذکر شويدے وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ او دليل ئے دا دے چه تر او سه پورے په نظام دَ الله تعالیٰ کښ هيڅ نقصان نه دے راغلے که چرے ستړے شوے نو ضرور به نقصان پيدا شوے وو لکه سورة ق کښ. بِقٰدِرٍ با دَ تاکيد دَ پاره په اثبات کښ هم راځی لکه كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا کښ. او دا خبر دَ اَنَّ دے حاصل دَ معنٰی دا دے آيا دوی علم نه لري په دے خبره باندے چه هغه الله تعالیٰ چه خالق دے نو قادر هم دے په دوباره ژوندی کولو باندے. بَلٰٓى په دے کښ اثبات دَ هغه نفي دے

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِينَ كَفَرُوا عَلَى النَّارِ أَلَيْسَ

او په کومه ورځ چه پیش به کړے شی کافران په اور باندے (او به ویلے شی) آیا نه دے

هٰذَا بِالْحَقِّ قَالُوا بَلٰى وَرَبِّنَا قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ

دا حق ، دوی به اوائی هاؤ قسم دے په رب زمونږ باندے او به وائی الله تعالیٰ نو اوڅکئ عذاب

بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿۳۴﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُوا الْعَزْمِ

په دے وجه چه تاسو کفر کوؤ - نو صبر اوکړه لکه چه صبر کړے وو لوی کار کوؤنکو

مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَهُمْ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ

رسولانو او په تادئے سره دوی لره عذاب مه غواړه یقیناً دوی په کومه ورځ

يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلَّا سَاعَةً مِنْ

چه اُوینی هغه چه دوی سره یئے وعده کیدے شی (گمان به اوکړی) چه نه وو حصار شوی دوی مگر یو ساعت دَ

نَهَارٍ بَلٰغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُونَ ﴿۳۵﴾

ورځے نه دا رسول دی پس نه به شی هلاکولے په عذاب سره مگر قوم نافرمانی کوؤنکی۔

چه اولم یروا کښ ده یعنی بلکه دوی علم لری په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے نو سره دَعلم نه انکار کوی او دارنګ سورة اسراء ۹۹ کښ هم دی۔

فائده :- هرکله چه په دے سورت احقاف کښ دَ ابتداء نه اثبات دَ بعث بعد الموت ته اشاره وه نو دَ دے وجے نه دَ تاکید دَپاره بیا ئے زیاتی راوړه چه مقصد خه واضح شی۔

۳۴ دَ اثبات دَ قیامت نه روستو دَ هغے هیبتِ شان بیانوی دَپاره دَ تخویف هغکښ ایت ۲۰ کښ هم تیر شوید ی په هغے کښ اسباب دَ عذاب ذکر کړیدی او په دے کښ اقرار دَ منکرینو ذکر کوی سره دَ عذاب نه هٰذَا اشاره ده دوباره ژوند ته -

۳۵ هرکله چه ذکر کړے شو انکار دَ منکرینو دَ توحید او رسالت او قرآن او قیامت نه نو اوس تسلّی ورکوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په امر سره په صبر کولو او په عدم استعجال دَ عذاب سره - اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ۔ العزم نه مراد پوخ پاتے کیدل دی په دین باندے سره دَ هر قسم مصیبتونو نه بغیر دَ شکایت نه مخلوق ته او په دے کښ اقوال مختلفه دی اول قول دا دے چه مِن بیانیه دے او ټول رسولان اولوالعزم دی (ربلنے په بلغ)

ځکه چه تولو رسولانو کښې دغه معنیٰ دَ عزم موجود وه. دویم قول دا دے چه مِنْ دَ پاره دَ تبعیض دے او مراد دَ دے نه پنځه رسولان دی چه په سورة شوریٰ ۱۳ او احزاب ۷ کښې ذکر دی. دریم قول دا دے چه دا اتلس پیغمبران دی چه سورة انعام ۸۴ ۸۵ ۸۶ کښې ذکر دی او دَ هغوی په اقتداء باندے امر کړے شوے دے په انعام ۹۰ کښې څلورم قول دا دے چه هغه شپږ انبیاء مراد دی چه سورة اعراف کښې دَ هغوی قصے ذکر دی. خو په دے کښې اول قول غوره دے. وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ دَ دے نه مراد دا دے چه دَ بے صبرئ دَ وجے نه زر دَ دوی دَ پاره عذاب او نه غواړے. نو صبرا علیٰ دَ فضائلو نه دے او استعجال اعلیٰ دَ رزائلو نه دے نو په اول باندے ئے امر اوکړو او دَ دویم نه نهی اوکړه. كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ دا هم په تسلیٰ کښې داخل دے یعنی دوی عذاب په تلوار سره غواړی او دوی وائی چه عذاب په موني وے زر نه راځی لیکن هرکله چه راشی نو دوی به پخپله اقرار اوکړی چه دا عذاب خو زر راغے ځکه چه کوم څیز تیر شی نو دَ انسان نه هیر شی یا دَ هیبت دَ عذاب دَ وجے نه دَ دوی نه به هغه اوګډ ژوند دَ دنیا او مزے هیرے شی. مَا يُوعَدُونَ عام دے که دَ دُنیا عذاب وی او که دَ آخرت وی او دا سے په سورة مؤمنون ۱۱۳ او سورة نازعات ۴۶ کښې هم ذکر دی. بَلٰغٌ دا هم خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په طریقه دَ تشجیع سره یعنی عَلَيْكَ بَلٰغٌ یا خبر دَ مبتدا محذوف دے هٰذَا دا قرآن بلاغ دے او حمل دَ مصدر مبالغة دے فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ داهم داخل دے په تسلیٰ دَ پیغمبر کښې یعنی روستو دَ تبلیغ نه عذاب په خاص راځی په نافرمانو باندے هاں که تبلیغ اونشی نو عذاب په عام راځی.

ختم شو تفسیر دَ سورة احقاف په فضل دَ الله تعالیٰ سره

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ ۴۷ مَدَنِيَّةٌ ۹۵	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۳۸ رُكُوْعَاتُهَا ۴

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ

هغه کسان چه کفر ئې کړیدے او اړوی خلقو لره د لارے د الله تعالیٰ نه بے کاره کړیدی

اَعْمَالَهُمْ ۞ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ

عملونه د دوی ۔ او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړیدی په برابر د سنت سره او

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ محمّد او بل نوم ئې سورة القتال دے

داسورت او سورة فتح او حجرات دا خلورم باب دے د آخرے حصے نه په دے کښ مسئله د قتال او انتظام ذکر کوی۔

ربط د دے سورت د ماقبل سره په ډیر وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه ماقبل کښ ذکر د دعوت او تبلیغ وو نو په دے سورت کښ امر دے په قتال فی سبیل الله تعالیٰ سره۔ دویمه وجه دا ده چه د هغه سورت په آخر کښ اهلاک د فاسقینو ذکر شو نو د دے سورت په اول کښ ذکر د علت د هغې دے۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ اثبات د اصول اربعو (توحید، صداقت رسول، صداقت قرآن، قیامت) او شو نو اوس په دے سورت کښ اصول ممده ذکر کوی چه قتال او انفاق فی سبیل الله دے۔

دعویٰ د دے سورت امر په قتال فی سبیل الله سره په سے کښ په ذکر د اتلس احوالو د کافرانو او هغه علتونه د قتال دی او اتلس صفات د مؤمنانو د پاره د تیزئې ورکولو په قتال باندے او اتلس قبائح د منافقینو چه هغه اوصاف مانعه د قتال دی۔ او دعویٰ د توحید چه مقصد د قتال دے ذکر ده په آیت ۱۹ کښ۔

خلاصه د سورت دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۹ پورے دے په دے کښ تفصیل ذکر کوی احوال د مشرکینو اتلس او صفات د مؤمنانو اتلس په طریقه د تقابل د فریقینو سره۔ او بیا تخویف په ذکر د قرب د قیامت سره په ۱۸ کښ او دعویٰ د توحید په ۱۹ کښ۔ (پاتے په بل مخ)

آمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ

ایمان ئې راوړې دې په هغه (وحی) چه نازل کړې شوې په محمد صلی الله علیه وسلم باندې او دا حق دې د طرف د رب د دوی نه

كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ

لرې کوی الله تعالیٰ د دوی نه بدئ د دوی　　او خائسته کوی حال د دوی - دا په دې وجه سره چه یقیناً

الَّذِينَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَأَنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

کافرانو　　تابعداری د باطل کړیده　　او یقیناً　　مؤمنانو

اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِن رَّبِّهِمْ ۚ كَذَٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ

تابعداری د هغه حق کړې ده چه د دوی د رب د طرف نه دې ، د غسې　　بیانوی　　الله تعالیٰ

لِلنَّاسِ أَمْثَالَهُمْ ﴿٣﴾ فَإِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا

خلقو لره　　حالات د هغوی -　　نو کوم وخت چه مخامخ شئ د کافرانو سره (په میدان جنګ کښ)

تفسیر سـ۱ـ په دې ایت کښ درې حالات د کافرانو ئې ذکر کړیدی د پاره د زجر او هر هغه خوك چه دا اوصاف پکښ وی نو دا ایت هغوی ته شامل دې - اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ مراد د دې نه هغه عملونه د خیر دی چه ور سره کفر او شرك کوی لکه عبادات، خائسته اخلاق قیدیان خلاصول، صدقات کول، خپلولی پالل، میلمستیا ورکول، کاوتړیا تو سره احسان کول دا ټول برباد دی -

سـ۲ـ په دې کښ د مؤمنانو ښځه حالات ذکر کړیدی او بشارت دې هغوی ته وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ هر کله چه په دې سورت کښ مقصد ذکر وو د دې امت، او اولنی دواړه صفات ټولو مؤمنانو ته شامل وو نو دا صفت ئې ذکر کړو چه معلومه شی چه فقط دا امت مراد دې - وَهُوَ الْحَقُّ ضمیر هو ما نزل یا محمد ته یا ایمان راوړلو ته راجع دې او په دې لفظ کښ اشاره ده چه ایمان د دوی په قرآن او په دې نبی صلی الله علیه وسلم باندې د وجې د حقانیت نه دې نه د وجې عصبیت وغیره نه. وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ مراد د بال نه مطلق حال او شان د دوی دې که دنیوی وی او که دینی وی او د اصلاح نه مراد په هغې کښ فائدې دنیوی او اخروی اچول دی او د برباد ئې نه بچ کول دی.

سـ۳ـ دا ایت د مخکنو دواړه ایاتونو سره متعلق دې یعنی د اضل اعمالهم - او کفر

فَضَرْبَ الرِّقَابِ حَتّٰى إِذَا أَثْخَنتُمُوهُمْ فَشُدُّوا

نو اووهئ سټوته د دوی تر دې چه هرکله بنه وینې توئې کړئ د دوی نو کلک کړئ

الْوَثَاقَ فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً حَتّٰى تَضَعَ

تړل د هغوی نو یا خو احسان اوکړئ احسان کول روستو (د تړلو نه) او یا تر بیته فدیئ واخلئ تر هغې پورې چه کیدی

الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا ۚ ذٰلِكَ ۛ وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ لَانتَصَرَ

جنګ سامان خپل دا خبره ده او که چرې اوغواړی الله تعالیٰ نو بدله به واخلی

مِنْهُمْ وَلٰكِن لِّيَبْلُوَ بَعْضَكُم بِبَعْضٍ ۗ وَالَّذِينَ

ئخپله د دوی نه او لیکن (تاسو ته ئې حکم د قتال درکړو) د دې دپاره چه ازمیښت اوکړی د بعض ستاسو په بعضو سره او هغه کسان

قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ ﴿٤﴾

چه اووژلے شو په لار د الله تعالیٰ کښ نو هیڅ ورے نه بے کاره کوی عملونه د هغوی .

عنهم سیئاتهم د پاره سببونه ذکر کوی په طریقه د ترتیب سره او په دے کښ د کافرانو حال او د مؤمنانو هم حال ذکر کړے دے. ذٰلِكَ اشاره ده اضلال او تکفیر او اصلاح ته په تاویل د مذکور سره. الْبَاطِلَ د دے نه مراد دلیل باطل دے لکه اتباع د هوٰی (خواهش) او اتباع د اباؤ او الْحَقَّ د دے نه مراد دلیل حق دے قرآن او حدیث چه دا دی ده د الله تعالیٰ د طرف نه. كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللَّهُ اه مراد د امثال نه احوال او صفات دی او هُمْ ضمیر دواړه فریقو ته راجع دے یعنی صفات د دواړو ډلو الله تعالیٰ نورو خلقو ته ذکر کوی د پاره د دے چه خلق د حق او باطل تمیز او پیژنی او عبرت ترے واخلی.

سک دا تفریع ده په ماقبل دواړه قسمونو حالاتو باندے یعنی اے مؤمنانو هرکله چه ستاسو دغه اوچت حالات دی او ستاسو مقابله کښ کافران دی او د هغوی احوال د ذلت دی د دے وجے نه هغوی لره قتل کړئ د پاره د دے چه دا ذلیل اوصاف د دُنیا نه پورته شی. فَضَرْبَ الرِّقَابِ اشاره ده چه مؤمن صرف دفع کوونکے نه دے بلکه دے رفع کوونکے دے د دے وجے نه لَقِيتُمْ نښتے وئیلی دی نو دا رنګ د قتل قصد کوونکی دلسے اندام باندے ګذار کوی چه مقتول د هغے په وجے سره زر مړ کیدے شی (یا ئے په بلامخ)

سَيَهْدِيْهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ۝٥ وَيُدْخِلُهُمُ

ضرور کامیابوی دوی لره او خائسته کوی حال دَ دوی - او داخله دی دوی لره

اودغه اقدام سته دے چه دَ هغې په وهلو سره دَمرے زګونه پریکړے شی - فَشُدُّوا الْوَثَاقَ اشاره ده اګرچه مؤمن رافع دے رلړے کوژنکے دَ کافرانو دے) لیکن مقصد په رفع کښ په خلقو باندے رعب اچول دی دَپاره ددے چه بیا دَ مؤمن مخ له نه راځی دَ دے دَپاره دَ ډیر قتل نه روستو امر یې دَ قید کولو ورکړو فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً دَ هر یو نه مخکښ فعل پټ دے تمنون منا او تفدون فداءً - قرطبی پنځه اقوال دَ دے ایت په ذیل کښ ذکر کړی دی چه دا منسوخ یا ناسخ دے یا محکم دے او بیا یې اخری غوره کړیدے چه سرهٔ دَ قتال نه قیدیان جوړول او بیا احسانی پریخودل یا په فدیې سره پریخودل دا ټول کارونه جائز دی - حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا په دے کښ توجیهات دی الحرب نه مراد جنګ کول دی یا ترینه مراد اهل الحربْ دی أَوْزَارَهَا مراد ترینه اسلحه دَ جنګ ده یا مراد ترینه اسباب دَ جنګ دی یعنی شرك او کفر - هرکله چه دَ حرب نه مراد جنګ وی نو دَ اوزارو کیخودلو نسبت مجازی دے او چه اهل حرب مراد شی نو دَ اسلحے کیخودلو نه مراد صلح کول، جزیه اداکول، یا اسلام راوړل دی او چه مراد ترینه کفر او شرک شی نو دا به مناسب شی دَ سورة انفال ۳۹ سره یعنی چه ټول خلق به مسلمانان شی او هغه زمانه دَ نزول دَ عیسٰی علیه السلام ده - دا دَ مجاهد نه قرطبی نقل کړیدی او مطلب به دا شی چه اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ذٰلِكَ دا یو کلمه ده چه فصیحان بلیغان خلق یې استعمالوی کله چه دَ یو کلام نه بل کلام ته انتقال کوی - او دا په محل دَ رفع کښ دے مبتدا یې حذف ده یعنی خبره دغه ده یا یې خبر حذف دے دغه حکم دَ کافرانو دے یا په محل دَ نصب کښ ده یعنی دا کار اوکړئ - وَلَوْ يَشَاءُ اللّٰهُ په دے جمله کښ حکمت دَ فرضیت دَ قتال ذکر کوی چه هغه ابتلاء کول دی په بندګانو باندے او دا حکمت په ټولو فرائضو الهیو کښ دے - وَالَّذِيْنَ قُتِلُوْا دا تسلی ده دَپاره دَ شهداء فی سبیل الله -
فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ په دے کښ حال دَ مؤمنانو شهداؤ ذکر کړے دے او مقابل دے دَ ۱ سره -
۵ ۶ په دے ایاتو کښ درے حالات دَ مومنانو شهیدانو ذکر کوی دَپاره دَ ترغیب دَ قتال فی سبیل الله - روستو دَ مرګ نه دَ هدایت معنی جنت ته رسول دَ

الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ⑥ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن

جنت ته تعریف یې کړی دے ځهغه جنت دوی لره . اے ایمان والو که

تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ ⑦

مدد اوکړئ دَ الله تعالیٰ نو مدد به اوکړی ستاسو او ټاخه به کړی قدمونه ستاسو .

وَالَّذِينَ كَفَرُوا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ ⑧

او هر چه کافران دی نو تباهی ده دوی لره او برباد کړی دی عملونه دَ دوی .

لکه سورة اعراف ۴۳ کښ . وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ په ۲ کښ اصلاح دَ بال (حال) په دنیا کښ مراد وه او دلته اصلاح په آخرت کښ مراد ده . عَرَّفَهَا لَهُمْ دَ تعریف نه دے په معنیٰ دَ پیژندګلے سره دے یعنی هر جنتی ته به خپل منزل او خو دلے شی او هغه به یې پیژنی . یا دَ عرَف نه دے په معنیٰ دَ خوشبویه کولو او په دیکښ نور توجیهات هم مفسرینو لیکلے دی .

۷ روستو دَ امر دَ قتال نه سرهٔ دَ ذکر دَ حالاتو دَ فریقینو نه تشجیع ورکوی په جهاد فی سبیل الله باندے او دوه حالتونه دَ مؤمنانو ذکرکوی دا حالتونه دوه وعدے دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په شرط دَ جهاد کولو سره . ان تَنصُرُوا اللَّهَ نصرت په اصل کښ دَ له کښ داخلیدل او دَ له کولو ته ویلے کیږی او هغه ته همکاری هم ویلے شی یعنی الله تعالیٰ دین رالیږلے دے او نبی صلی الله علیه وسلم یې رالیږلے دے او دین چلوی دا کار دَ الله تعالیٰ دے نو په دیکښ (دین چلولو کښ) ملګرتیا کولو ته نصرت ویلے کیږی نو دَ هغے یې دوه فائدے ذکرکړے دی یو نصرت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه یعنی غلبه ورکول په دشمن باندے دویم په دین باندے کلکول لکه سوره حج ۴۰ .

۸ دا یو قسم نصرت الهیه دے دَ مؤمنانو سره . او دَ کافرانو دوه حالتونه ذکرکوی دَ تخویف دَ پاره . فَتَعْسًا لَّهُمْ . تعس په اصل کښ پرمخ پریوتلو ته وائی لکه نکس چه په سر باندے غورځیدل دی بیا قرطبی دَ دے لس معانی ذکرکړے دی دَ هغے ټولو مقصد یو دے چه ذلیل کیدل دی . هغه لس دا دی . لرے والے ، غم ، مشقت ، بدرد ویل . هلاکت ، نا امیدی ، قباحت ، ذلیل کیدل ، بد حال ، بد بختی . وَأَضَلَّ أَعْمَالَهُمْ مراد دَ اعمالو نه دَ دوی کیدونه او مکرونه دی په مخالفت دَ ایمان والو کښ .

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ⑨

دا دَدے وجے نه چه یقیناً دوی بدګڼړی هغه چه نازل کړیدے الله نو بے فائدے کړیدی عملونه دَ دوی.

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

ایا دوی نه ګرځی په ملک کښې نو چه اوګوری چه څه رنګ وو

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۡ وَ

اخری انجام دَ هغه خلقو چه دَ دوی نه مخکښې تیر شویدی تباهی راوستله الله تعالیٰ په هغوی باندے او

لِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ⑩ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ

کافرانو لره دَ دے پشان عذابونه دی. دا دَ دے وجے نه چه یقیناً الله مددګار (دوست) دَ

سو په دیکښې دوه حالات دَ کافرانو ذکر کوی. ذٰلِكَ په تاویل دَ مذکور سره اشاره ده تعس او اضلال ته یعنی دَ دغه دواړو دَپاره سبب کراهیت دَ ما انزل الله دے بدګڼړل دَ قرآن او سنت. ناکاره ګڼړل حکم او شریعت دَ الله. فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ دَ دے نه مراد عملونه دَ کفر او شرک او نور قبائح فواحش دی. فَا دلالت کوی په سببیت باندے یعنی بدګڼړل دَ ما انزل الله سبب دے دَ پیدا کیدلو دَ ناکاره عملونو دَپاره لکه چه دا سبب دَ تعس او دَ اضلال هم دے فَا دلالت کوی په سببیت خفیه (پټ) باندے او بَاءَ دَپاره دَ سببیت ظاهر په راځی نو دا ایت دلیل دے چه بدګڼړل او نفرت کول دَ قرآن او سنت او دَ هغې دَ احکامو نه سبب ګرځی دَپاره دَ هلاکت او دَ ذلت او دَ بے کاره کیدلو دَ عملونو او دَ دے نه پیدا کیږی بدکاری فحاشی او نور بد اعمال هم.

سلا دا تخویف دنیوی دے او دَ کافرانو بوحال ذکر کوی او مثال دَ تعس (هلاکت) ذکر کوی په سبب دَ کراهیت دَ ما انزل الله سره. دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ دَمار پوره هلاکولو او دَ بیخ نه ویستلو ته ویلے کیږی او عَلَيْهِمْ دلالت کوی په احاطه کولو دَ دمار سره په هغوی باندے. وَلِلْكٰفِرِيْنَ دَپاره دَ تعمیم وصف دَ کفر ئے ذکر کړو چه ټولو کافرانو ته شامل شی. اَمْثَالُهَا هَا ضمیر عاقبت ته راجع دے یعنی په تیر شوی اقوام مکذبو باندے چه کوم عذابونه راغلی وو نو دَ هغې پشان به په روستنو باندے هم راځی.

اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ﴿١١﴾ اِنَّ اللّٰهَ

مؤمنانو دے او یقیناً کافران چه دي نیشته مددګار د هغوی . یقیناً الله تعالیٰ

يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ

به داخلوی هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړیدي په سنت برابر جنتونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۭ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه بهیږي په لاندے د هغې نه ویالے او کافران خو

يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ

مزے اخلي (د دنیا) او خوراک کوي لکه چه خوراک کوي څاروي او اور

مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ

ځائے د دیره کیدلو د دوی دے. او ډیر کلي دي چه هغه مضبوط دي

سـ۱۱ دا سبب د ماقبل دے او د مؤمنانو یو حال او د کافرانو یو حال ذکر کوی ذٰلِكَ اشاره ده نصرت د مؤمنانو او ذلت او هلاکت د کافرانو ته. مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا د قشیری نه نقل دے چه دا ایت کریمه د ډیر اُمید (د خوشحالئ) ایت دے ځکه چه الله تعالیٰ خپل ولایت په عبادت کوونکو، وظیفو او ذکر کوونکو او ریاضت کوونکو پورے نه دے خاص کړے بلکه صِرف مؤمنان ئې ذکر کړیدی. او د دے ایت موافق اعلان رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په اُحد کښ کړے وو" لنا المولی ولا مولی لکم" په جواب د قول د کافرانو کښ " لنا العزیٰ ولا عزیٰ لکم".

سـ۱۲ روستو د ذکر د حالاتو د فریقینو نه بشارت ذکر کوی یو فریق ته او تخویف دویم فریق لره او د مؤمنانو یو حال او د کافرانو درے حالتونه ئې ذکر کړی دی. تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ په دے جمله کښ اشاره ده چه دغه باغات د جنت همیشه تروتازه او په ترقۍ سره دی. يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ تمتع عام دے خوراك، څښاك، لباس، لهو ولعب، زیب وزینت ټولو ته شامل دے او اکل ئې خاص ذکر کړے دے اشاره ده چه لوے مقصد د دوی خوراک دے لکه سورة حجر سـ۳ کښ تیر شوی دی. كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ تشبیه په ډیر خیزونو کښ ده. (رباځے په بل مخ)

قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا

په قوت کښې ستا د کلي نه هغه چه ويستلے ئې ته هلاک کړيدي مونږ هغوي نو نشته

نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ

مددګار دوي لره . ايا څوک چه دي په ښکاره دليل باندے د رب د طرف نه پورے

كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾

پشان د هغه چا دے چه ښائسته کړے شويدي ده لره بد عمل د ده او تابعداري کړيده د خواهشاتو خپلو .

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ

صفت د هغه جنت چه وعده ئې کړے شويده د متقيانو سره (دا دے) په هغې کښې ويالے دي

مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ

د اوبو نه چه نه بدبويږي او ويالے د پيو نه چه نه به بدليږي

په تلذذ کښې، په فرق نه کولو د حرامو او حلالو کښې، په اول کښې بسم الله نه ويل او په
اخر کښې حمد او شکر نه کول، خوراک مقصد ګنړل، او دا رنګ په ولاړه باندے خوړل.
سـ۱۳ دا تسلي ده نبي صلّى الله عليه وسلّم ته او تخويف دنيوي دے منکرينو ته .
قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً اشاره ده احقاف ته چه هغکښې سورت کښې تير شول او د هغې
په شان نورو واقعاتو هغکښو ته. اَهْلَكْنٰهُمْ هم ضمير اهل قريه ته راجع دے چه
حذف دے.
سـ۱۴ په دے کښې د تسلي او د تخويف (چه هغکښې ذکر شول) اسباب ذکر کوي او تقابل
د فريقينو دے چه د مؤمنانو بو حال ذکر کوي او د کافرانو د دوه حالات ذکر کوي.
عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ اشاره ده چه مؤمنان د تقليد مذموم (تقليد جامد) نه بچ وي بلکه
په دليل پسے روان وي. كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ يعني شرك او بدعات ورته ثواب معلوميږي
لکه سورة کهف سـ۱۰۴ سورة فاطر سـ۸ کښې تير شوے دي. وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ يعني د
عمل کولو د پاره دليل د وحي ته لري او خواهش (هوی) خو دليل نه دے.

طَعْمُهٗۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ۬ وَاَنْهٰرٌ

خوند دَ هغې او ويالې دي دَ شرابو چه مزه ورکوي څکونکو لره او ويالې دي

مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ؕ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ

دَ ګبين چه صفا کړے شوے دے او دوي لره به هغه کښ دَ هر قسم

الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ؕ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ

ميوه جات به دي او بخښش دے دَ دوي دَ رب دَ طرف نه (آيا دا سے کس) په شان دَ هغه چا دے چه هميشه وي

فِى النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ⑮

په اور کښ او څکولے کيږي به دوي ته اوبه خوټيدلے نو ټوټے ټوټے به کړي کولمے دَ دوي۔

ت۱۵ ايت نه مخکښ بشارت په جنت سره ذکر وو اوس دَ هغې تفصيل بيانوي او تقابل دے دَ فريقينو په جزا کښ۔ مَثَلُ الْجَنَّةِ دا مبتدا ده خبر ئے پټ دے (مَا تَسْمَعُوْنَ) يا همزه دَ استفهام محذوف دے او دا مبتداء ده او كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ دا ئے خبر دے او مينځ کښ جمله حاليه ده۔ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ دا صرف تفصيل دَ انواعو دَ مشروباتو ذکر کوي هر کله چه اول په مشروباتو کښ محبوب اوبه دي نو هغه ئے اول ذکر کړے۔ غَيْرِ اٰسِنٍ په خلاف دَ اوبو دَ دُنيا نه چه خوند ئے کله دَ اصل نه بدل وي او کله په عارض سره بدل شي لکه په يو ځائے ډيرے حصارے شي يا لهه پکښ پيدا شي۔ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ دَ اوبو نه روستو زيات نزدے هر طبيعت ته پئے (شودهٔ) څکل دي نو دويم ئے ذکر دَ پيو اوکړو لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ په خلاف دَ پيو دَ دنيا چه کله دَ غوا نه نزدے نه راؤځي او خوند ئے خراب وي يا ډير وخت پرے تير شي نو خراب شي۔ دَ اوبو صفت (غير اسن) په صيغه دَ اسم سره ذکر وو او دَ پيو صفت (لم يتغير) په صيغه دَ فعل سره ذکر کړو اشاره ده چه دَ اوبو دَ جنت به دغه صفت هميشه وي او جنتيان به هم دَ هغې خوند بدلول نه غواړي او دَ پيو خوند به پخپله نه بدليږي ليکن که جنتيان غواړي چه ماسته شوملے وغيره ترينه جوړے شي نو جوړيږي به شي۔ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ هر کله چه عام طبيعتونه دَ ميوو او غلو نه ويستلے شوے رس غواړي چه دَ هغې نه صوف دَ خمرو (شرابو) جوړيږي نو دريم ذکر ئے دَ هغې اوکړو لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ يعني دَ هغې رنګ يا خوند يا عاقبت به داسے نه وي چه څکونکي دَ هغې نه نفرت (يا ئے په بل مخ)

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ إِلَيْكَ حَتّٰى إِذَا خَرَجُوْا مِنْ

او بعض خلق داسے دی چه غوږ کیږدی تاته (په جاسوسئ سره) ترڅو چه هرکله اوځی

عِنْدِكَ قَالُوْا لِلَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ مَاذَا

دَ خواته وائی هغه کسانو ته چه علم ورکړے شوے دے څه

قَالَ اٰنِفًا قف أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ

اُویل اوس دا هغه خلق دی چه مُهر وهلے دے الله تعالیٰ

اوکړی او په هغے کښ په ذاتی لذت پروت وی په خلاف دَ خمر دَ دنیا نه چه دَ هغے خوند او رنګ او عاقبت هم کړیه وی لیکن په خارجی نورو څیزونو سره یٔے پکښ عارضی لذت پیدا کړے وی۔ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ هرکله چه عام طبیعتونه دَ مشروباتو خوګولے غواړی او دَ عام خوګو څیزونو خوګوالے عارضی دے دَ دے وجے اکثر اوقاتو کښ هغه مضر هم کیدے شی او دَ عَسَل (ګبین) خوګوالے اصلی ذاتی دے او هغه شفاء او علاج دے بله داچه عسل دَ مختلفو بوټو اوګلونو نه راویستلے رس وی نو مناسبت یٔے دَ خمرو سره شته دے۔ مُّصَفًّى په صیغه دَ اسم مفعول دَ تصفیه نه راوړلو کښ مبالغه ده دَ هغے په صفائی کښ یعنی ګویا چه صفا ګوؤنکو هغے له صفا کړے وی چه په هغے کښ په یکه او خسترې وغیره هیڅ نه وی۔ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ مخکښ ذکر شو مشروبات او دا اجمالی ذکر دے دَ مطعوماتو۔ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ اشاره ده چه په دُنیا کښ کله میزبان (کوربه) په زړه کښ دَ میلمنو نه خفه وی لیکن په جنت کښ په الله تعالیٰ دَ ټولو نه رضا وی او دَ دے وجے نه ګناهونه یٔے ورته بخلے دی۔ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ دَ زجاج نه نقل دے چه تقدیر دَ عبارت داسے دے أَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ وَأُعْطِيَ هٰذِهِ الْأَشْيَاءَ كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْءُ عَمَلِهٖ وَهُوَ خَالِدٌ فِي النَّارِ۔

وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا دا په مقابله دَ مشروباتو دَ جنت کښ دے۔ دا داسے اوبه دی چه څومره ته یٔے نزدے کړی نو مخ به یٔے رویت پریت شی او دَ مخ څرمن به په هغے لوخی دَ اوبو کښ پریوځی لکه سورة کهف ۲۹ کښ تیرشوی ؤ بیا به وړله دننه کولمے ټکړے ټکړے کړی۔ او په حدیث کښ وارد دی چه دا ټکړے په دَ دوی نه لاندے اوځی (اللّٰهم اجرنا من النار)۔

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ⑯

په زړونو د دوی باندے او تابعداری کوی دوی د خواهشاتو خپلو۔

وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّ

او هغه کسان چه هدایت والا دی زیاتی کوی الله تعالیٰ دوی لره هدایت او

اٰتٰهُمْ تَقْوٰىهُمْ ⑰ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ

ورکوی دوی ته (توفیق) د تقویٰ۔ نو انتظار نه کوی دا منکرین مګر د قیامت

اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ

چه راشی دوی ته ناساپه نو یقیناً راغلی دی نخښے د هغے

سلا دا تقسیم د کافرانو ته اشاره ده چه بعضے یکښ داسے عمل کوی او دا عمل د منافق دے د مِنْهُمْ ضمیر راجع دے الذین یتمتعون و یاکلون ته او په دے ایت کښ د دوی درے حالات یے ذکر کړیدی۔ مَاذَا قَالَ اٰنِفًا یعنی د دوی توجه نه وی کلام د الله او د رسول ته په غفلت کښ وی نو پوهه نه لری او مراد د دے نه هغه کلام دے چه دوی واوریدلو یا مراد د دے نه هغه کلام دے چه د دوی د راوتلو نه روستو وو دوی د هغے تپوس کوی په دے خیال باندے چه زمونږ په غیبت کښ یے څه ویلے دی۔ یا دا چه غفلت کښ نه وی لیکن په طریقه د استهزاء او د نفرت سره وائی - وائی چه دے نبی دا څه یے قائده خبرے اوکړے۔ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ دا سبب دے د پاره د نه پوهیدلو په کلام د الله تعالیٰ او د رسول د هغهٔ یا دا استهزاء ده په هغے پورے او په سلا کښ چه اتباع هوئ ذکر کړے وه نو هغه سبب وو د پاره د تزیین د بد عمل د دوی۔

سلا دا په مقابله د مخکښ کښ د مؤمنانو دوه صفات ذکر کوی۔ زَادَهُمْ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے یا استماع د قران ته۔ یعنی ایمان والا چه قران اوری نو الله تعالیٰ د دوی لره په سبب د هغے سره ایمان زیاتوی ځکه چه دوی یے په غفلت سره نه اوری او استهزاء هم نه کوی۔ وَاٰتٰهُمْ تَقْوٰىهُمْ یعنی په قران اوریدلو سره طریقے د تقویٰ هم ایزده شی او د هغے توفیق ورته هم حاصل شی۔

فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ

نو دَ كوم ځائے نه به وی دوی لره كله چه قيامت راشی نصيحت اخستل دَ دوی. پس پوهه شه چه يقيناً نيشته

اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَ

حقدار دَ بندگۍ سيوا دَ الله تعالٰی نه او بخنه غواړه دَ پاره دَ بوج خپل او دَ پاره دَ مؤمنانو سړو او

سـ۱۸ـ په دے کښې تخويف اخروی دے او ذكر دَ بد حال دَ كافرانو دے. فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ يعنی دا كافران هر كله چه اوس ايمان نه راوړی نو معلوميږی چه انتظار دَ قيامت كوی (دوی وائی) چه قيامت راشی نو بيا به ايمان راوړو اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً دا بدل اشتمال دے دَ السَّاعَةُ نه يعنی قيامت خو ناگهه راځی دوی نه بيا مهلت دَ توبے نشی وركيدے بَغْتَةً هغه حال دے چه تاريخ معيين ئے معلوم نه وی نو انسان ورته تيار نه وی كړے او ناسا په راشی اگرچه نښے ئے معلومے وی.

فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا شرط نښے دَ زخم ته ويلے كيږی كله چه جوړ شی دلته مراد دَ هغے نه دَ قيامت واړه علامات دی چه اول په هغے كښې دَ نبی صلّی الله عليه وسلّم بعثت دے لكه چه صحيح حديث كښې وارد دی (بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ) نو نبی صلّی الله عليه وسلّم خوړا اوليږلے شو او دا رنگ انشقاق القمر او دُخان دے او دا خو تير شوی دَ دے وجے نه جَآءَ په فعل ماضی سره ئے اوويل او هر كله چه اوله نښه موجوده شوه نو نورے ورپسے پر له پسے راځی دَ دے وجے نه جمع صيغه ذكر كړله. او نورے نښے په احاديثو كښې ذكر دی بعضے دَ هغو نه دا دی. علم دَ دين به پورته كړے شی. جهل به زيات شی. غريبان به مالداران شی. ربا خوړل او شراب څښل او زنا كول به ډير شی. نارينه به كم شی. زنانه به ډيرے شی تر دے پورے چه دَ پنځو سو زنانو به يو سړے منتظم وی. امانت به برباد كړے شی يعنی كارونه به نااهلو ته اوسپارلے شی شهادت دَ دروغو او په دروغه قسمونه به ډير شی مساجدو كښې به آوازونه اوچت كړے شی دَ ټنگ ټكور سامان به ډير شی دوستانَ به نزدے كولے شی او مور و پلار او خپلوان به لرے كړے شی. نو دا نښے زمونږ زمانه كښې اكثر موجود دی ليكن اكثر مخلوق تر اوسه بيا هم غافل دے. فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ. ذِكْرٰىهُمْ مبتدا ده فَاَنّٰى لهم خبر مقدم دے اذا جاءتهم شرط (معترض) دے لكه سورة فجر سـ۲۳ـ كښې دی.

الْمُؤْمِنٰتِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ ﴿١٩﴾ وَ

دَ زنانو مومنو دَپاره ۔ او الله تعالیٰ پیژنی ستاسو دَ گرځیدلو او دَ دیره کیدلو ځایو ته ۔ او

سو په دے کښ دعویٰ دَ توحید ده چه هغه مقصد دَ مثال دے. ربط دَ هغې سره دا دے چه دَ قیامت نزدے کیدل یې ذکر کړل نو اوس دَ قیامت دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو دَ پاره طریقه کار ذکر کوی. نو تقدیر دَ عبارت دا دے وَ اِذَا ثبت ان الذکرٰی لا تَنْفَعُ وَقْتَ مجی الساعة فاعلم (الآیة) رهر کله چه ثابته شوه چه کله قیامت راشی نو ذکرٰی فائده نه ورکوی نو اوس په ذکرٰی باندے علم حاصل کړئ۔ او اول او اهم ذکری کلمه دَ توحید ده ۔ فَاعْلَمْ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته خطاب دے او مراد تربیته امت دے یا مراد دَ دے نه په دے علم باندے کلک پاتے کیدل دی ۔ او علم دَ دے کلمے شامل دے علم ته په الفاظو دَ هغې باندے او په معنیٰ دَ هغې باندے او په هغې باندے عقیده ساتل او په مقتضیاتو دَ هغې باندے هم پوهه او عمل کول۔ او دا دلیل دے چه علم دَ توحید اول فرض دے او دا رنگ دا دلیل دے چه علم دَ قول او عمل نه مخکښ دے دَ دے وجے امام بخاری په ترجمة الباب کښ ذکر کړے دی باب العلم قبل القول والعمل او بیا یې په دے ایت سره استدلال کړیدے۔ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ استغفار قول دَ ژبے دے او عمل هم دے اشاره ده چه دَ علم سره استغفار په کثرت سره ضروری دے۔ لِذَنْۢبِكَ (سوال) نبی صلی الله علیه وسلم خو معصوم دے نو هغه ته یې دَ ذنب نسبت ولے اوکړو؟

جواب۔ اول جواب دا دے چه مراد دَ ذنب نه گناه نه دے بلکه بوج دَ زړه او خفگان دے په سبب دَ شرک دَ مشرکانو او مخالفت دَ مخالفینو یعنی استغفرالله وایه دَ پاره دَ ختمه کولو دَ خفگان دَ زړه نه او دلیل په دے باندے حدیث دے۔ انه لیغان علی قلبی فاستغفرالله سبعین مرة او مأته مرة ریقینا زما په زړه باندے بوج او خفگان راځی نو ځه اویا یا سل کرته استغفار وایم) دویم جواب مراد دَ ذنب نه افضل کار کله کله پریخودل دی اگرچه هغه گناه نه دے لیکن دَ مقربینو دَ شان سره مناسب نه دے دریم جواب قرطبی ذکر کړے دے چه استغفار غواړه دَ پاره دَ بچ کیدلو دَ گناه کولو نه۔ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ دا شفاعت کول دی په دنیا کښ او اشاره ده چه هر مؤمن لره ضروری دی چه استغفار په دَ نورو مؤمنانو دَ پاره غواړی۔ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ دا دواړه الفاظ (پاتے په بل مخ)

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُوْرَةٌ ۚ فَاِذَآ

وائي هغه خلق چه دعوىٰ دَ ايمان كوي ولے نشي نازليدلے يو سورت نو كوم وخت

اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّ ذُكِرَ فِيْهَا الْقِتَالُ ۙ رَاَيْتَ

چه نازل كړيشي سورت پوخ مضمون والا او ذكر كړيشي په هغے كښ حكم دَ قتال وَبه وينے ته

الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ يَّنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ

هغه كسان چه په زړونو دَ هغوى كښ مرض دے گوري تا ته

نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۭ فَاَوْلٰى لَهُمْ ۝۲۰

پشان دَ نظر كولو دَ هغه چاچه بيهوشي ورباندے راغلے وي دَ مرگ دَ وجے نه نو تباهي ده دوى لره ۔

ډيرو معانو ته شامل دي ع۱ گرځيدل دَ ورځے او ځائے دَ آرام كولو دَ شپے ع۲ عملونه ستاسو په دُنيا كښ او مرجع په قبر او په قيامت كښ ع۳ گرځيدل په سفر كښ او اقامت كول په يو ځائے كښ يعني ستاسو په ټولو حالاتو باندے الله تعالىٰ عالم دے دَ دے وجے نه دَ هغه دَ توحيد دَ الوهيت علم ضروري دے او استغفار غوښتل پكار دي۔ دا رنگ په دے كښ اشاره ده چه علم او عمل په تاسو باندے فرض دے او هرچه دَ هغے عاقبت او نتيجه ده نو هغه دَ الله تعالىٰ په علم او اختيار كښ ده۔

س۲ دَ دے ايت نه دويم باب دے تر آخر دَ سورت پورے په ديكښ زواجر دَ منافقينو دي په ذكر دَ اتلس قبائحو دَ هغوى سره او ترغيب دے قتال ته په س۳۳ س۳۵ كښ او ترغيب دے انفاق ته سره دَ تزهيد في الدنيا نه ۔

تفسير په دے (س۲) كښ زجر دے منافقينو ته په ذكر دَ څلورو حالاتو دَ هغوى سره الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دا قول دَ مخلصانو مؤمنانو دے دَ پاره دَ شوق دَ جهاد او دَ حرص په وحي او ريدلو باندے دا طلب كوي يا مراد دَ دوى نه منافقان دي چه طلب دَ نزول دَ سورت په طريقه دَ منافقت سره كوي لكه سورة نساء س۷۷ كښ ذكر دي ۔ مُّحْكَمَةٌ چه ښكاره مراد والا وي او نه منسوخ كيږي ۔ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ نفاق او بزدلي دَ چه دَ هغے اثر ئے روستو ذكر كړے دے الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ دَ مرگ په وخت كښ بے هوشي راشي يا دَ ويرے دَ مرگ نه بے هوشه شي نو دَ هغه سترگے ښخ او وازے وي يو طرف ته او دا رنگ دَ بزدل سړي دَ ويرے دَ

طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ ۣ فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ ۣ فَلَوْ

(ریکاردہ) دوی لرہ تابعداری کول او ویناً نیکه نوکوم وخت چه پوخ شو حکم دَ قتال نو که چرے

صَدَقُوا اللّٰهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿۲۱﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ

رشتیا کرے وو دوی لوظ دَ الله تعالیٰ ضرور به غوره وو دوی لره. نو یقیناً نزدے یئ تاسو

اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِى الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْٓا

که چرے مخ واړوئ چه فساد به اوکړئ په ملک کښ او پرے به کړئ

اَرْحَامَكُمْ ﴿۲۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ

خپلولے ستاسو. دا هغه خلق دی چه لعنت کرے دے الله تعالیٰ په دوی باندے نو کاڼه ئے کړل دوی

وجے نه سترگے وازے وی او یو طرف ته گوری فَاَوْلٰى لَهُمْ اصمعی وئیلے دی چه دَدے معنیٰ دادہ چه قریب شو دوی ته هغه څیز چه هلاکوی دوی لره نو اَوْلٰى فعل ماضی لازمی ده او فاعل ئے حذف دے یا فعل ماضی متعدی ده ضمیر فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے او هلاک مفعول ئے حذف دے. یا اولیٰ په معنیٰ دَ ویل سره مصدر دے یا اَوْلٰى په معنیٰ دَ زیات لائق دے او مبتدا حذف ده یعنی العقاب اَوْلٰى لَهُمْ یا اَوْلٰى په معنیٰ لائق سره دے او خبر دے مقدم او مبتدا ئے طاعت دَ قول معروف دے.

سلا طَاعَةٌ اه دَدے دَپاره خبر حذف دے یعنی خَيْرٌ لَّهُمْ. یعنی که چرے دوی دَ جهاد نه ویره نه کولے بلکه طاعت ئے کړے وے نو ډیر خیر به وو. او مراد طاعة نه طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دے عموماً او خاص په معامله دَ جهاد کښ.

مَعْرُوْفٌ هغه څیز دے چه شرعاً معلوم وی خائست دَ هغے. فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ پوخ شو حکم دَ جهاد یعنی فرض کرے شو په داسے طریقه چه بیا نه منسوخ کیږی. فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ، دا ټوله جمله جزاء دَ اِذَا ده مراد دَ صدق نه اخلاص کول دَ ایمان او دَ جهاد دی. لَوْ دلالت کوی په امتناع دَ دواړه جزئینو دَ جملے نو معلومه شوه چه دوی صادق نه دی نو دا دَ منافقینو بیل حال دے.

سلا۲ مراد دَ تَوَلَّيْتُمْ نه اعراض دَ کتاب الله او دَ جهاد نه دے دا قول دَ قتادہ دے نو په دے ایت کښ اشارہ ده ناکاره نتائجو ته دَ اعراض دَ کتاب الله (راتے په بل مخ)

وَاَعْمٰۤى اَبْصَارَهُمْ ﴿۲۳﴾ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ

او ړندې يې کړلې سترګې د دوی | ايا دوی سوچ نه کوی | په قران کښ | بلکه

عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ﴿۲۴﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا عَلٰۤى

په زړونو د دوی باندې جړندې د هغې دی۔ | يقيناً | هغه کسان چه واوړيدل (د ايمان نه) | په

او د جهاد نه۔ يعنی که چرې تاسو د قران نه مخ واړوئ او جهاد پريږدئ نو په ملک کښ به ګناهونه او بغاوت او ناحق قتلونه ډير شی او دا فساد دې او خپلوی به ختم شی يعنی په خپلوانو باندې به ظلم شورو شی څو يل باندې به لوټ مار کيږی پشان د جاهليت. يا مراد د تولیتم نه واليان کيدل دی يعنی منافقانو ته چه ولايت افسری ملاؤ شی نو فساد ونه به کوی په مخالفت د قران او سنت سره او په ظلمونو کولو او په رشوتونو اخستلو سره۔ نو په ايت کښ دا بيې دوه حالات د منافقانو ذکر دی چه په اعراض کولو يا په ولايت حاصلولو سره پيدا کيږی۔

فائده:۔ ارحامکم قرطبی ويلی دی چه ارحام دوه قسمونه دی اول عام دويم خاص دې عام رحم يعنی تعلق د دين اسلام دې او دا د ټولو مسلمانانو حق دې او خاص خو صرف د نسبی خپلوانو حق دې۔

سـ۲۳ سـ۲۴ دا نور صفات د منافقانو دی په دواړو ايا تونو کښ يې پنځه ذکر کړې دی۔ اُولٰٓئِكَ دا اشاره ده تير شوی صفتونو والو ته يعنی ماقبل (افساد او قطع الارحام) سبب د لعنت دې او لعنت سبب د اصمام او عمی د سترګو دې حرف د فا په دې ترتيب او سببيت باندې دليل دې۔

فائده: فاصمهم اذا انهم يې او نه ويل اشاره ده چه په غوږ پريکولو سره اوريدل نه فوت کيږی او په سترګه لرکولو سره نظر ختميږی۔ اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ، همزه استفهام انکاری دې نفی د تدبر ترينه مراد ده او حرف فا دلالت کوی چه اصمام او عمی سبب دې د نفی د تدبر د قران او په دې کښ اشاره ده چه مقصد د قران صرف تلاوت د الفاظو نه دې بلکه تدبر او سوچ کول دی په معانی او مقاصدو او حکمتونو د هغه کښ او دا رنګ سورة نساء سـ۸۲ کښ تير شويدی۔ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا اَمْ په معنیٰ د بَلْ سره دې د پاره د ترقیٔ په سبب د نفی د تدبر د قران کښ يعنی د تدبر نه کولو حقيقی وجه دا ده چه د دوی په زړونو باندې جړندې وهلی شويدی۔

أَدْبَارِهِمْ مِّنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى ۙ

شاګانو خپلو باندې روستو دَ دې نه چه ښه ښکاره شو دوی ته هدایت

الشَّيْطٰنُ سَوَّلَ لَهُمْ ۗ وَأَمْلٰى لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

شیطان ښائسته کړیدی دوی ته (عملونه دَ دوی) او مهلت ئې ورکړیدے دوی ته. دا دَ دې وجې نه چه یقینًا دوی

قَالُوا لِلَّذِيْنَ كَرِهُوْا مَا نَزَّلَ اللّٰهُ سَنُطِيْعُكُمْ فِيْ

وائې هغه کسانو ته چه بدګڼړی هغه چه نازل کړیدے الله تعالیٰ موږ به ستاسو خبره اومنو په

لکه جرندہ (تاله) چه دروازه باندې اُوهلے شی نو دننه هیڅ څیز نه شی داخلیدلے نو دارنګ دَ دوی زړونو ته دننه حق خبره نه داخلیږی۔

فائده: قلوب نکره ده په سیاق دَ اثبات کښ ده یعنی په بعضے زړونو باندې قفل وهی۔ او أَقْفَالُهَا کښې مضاف کړیدے ضمیر دَ قلوب ته اشاره ده چه مراد دَ دې نه جرندے دَ او سپنے نه دی بلکه جرندے چه مناسب وی دَ زړونو سره یعنی جرندے دَ کفر او عناد کولو۔

ف۲۵ دا هم زجر دے منافقانو ته او ارتداد دَ هغوی دا دے چه دَ قرآن نه فرضیت دَ قتال ورته معلوم شو او بیا ئې هم اعراض اوکړو او سبب دَ ارتداد ئې ذکر کړو سَوَّلَ او أَمْلٰى نو په دې ایت کښ دَ منافقانو درې حالات ذکر شول۔

سَوَّلَ لَهُمْ تسویل نه مراد ښائسته کول سره دَ اسانولو نه دی۔ وَأَمْلٰى لَهُمْ

سوال۔ مهلت ورکوونکے الله تعالیٰ دے نو شیطان ته ولے نسبت اوشو؟

اول جواب دا دے چه أَمْلٰى ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے په قرینه دَ ف۱۷۸ دَ سورة آلعمران او ف۵۵ دَ سورة مؤمنون۔

دویم جواب دا دے چه ضمیر شیطان ته راجع دے چه شیطان مهلت ورکوی یعنی په وسوسو سره دَ انسان نه مرګ هیر کړی او دَ دې تائید په سورة اعراف ف۲۰۲ کښ دے۔

سَوَّلَ کښ اشاره ده اعمالو دَ شرک او بدعاتو ته چه هغه ته دوی ګناهونه نه وائې دَ دې وجې نه توبه ترې نه اوباسی او أَمْلٰى کښ اشاره ده انهماک دَ دوی په خواهشاتو او شهواتو نفسیاتو کښ چه توبے کولو نه غافل دی۔

بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿۲۶﴾ فَكَيْفَ اِذَا

بعض کارونو کښې او الله تعالیٰ پوهیږی ډ دوی په پټو خبرو کولو باندے. نو څرنګ حال به دوی هغه ؤخت

تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿۲۷﴾

چه سا اخلی ډ دوی نه ملائک ډ مرګ و هی به مخونه ډ دوی او شاګانے ډ دوی.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا

دا په دے وجه چه یقیناً دوی تابعداری کړیده ډ هغه کار چه خفه کړی دے الله تعالیٰ او بد ګڼلی دوی

رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۲۸﴾ ع اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ

رضا ډ الله تعالیٰ نو بے فائدے کړیدی عملونه ډ دوی. آیا ګمان کوی هغه کسان

سـ۲۶ په دے ایت کښې هم زجر دے منافقانو ته او سبب ډ تسویل الشیطان ذکر کوی چه هغه ډ بے دینو خلقو سره په بے دینے کښې تعاون کول دی یا ډ تعاون کولو وعده کول دی. کَرِهُوْا مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ ډ دوی ذکر ډ دے سورت په ایت سـ۹ کښې تیر شویدے او هغه ښکاره کافران او مشرکان دی. بَعْضِ الْاَمْرِ مراد تری نه مخالفت ډ نبی صلّی الله علیه وسلّم او خلقو لره ډ هغه ډ طاعت نه منع کول او ډ جهاد نه منع کول دی اظهار ډ شرک تری نه مراد نه دے. اِسْرَارَهُمْ دا خبره دوی پټه کوله او دا رنګ نور منافقو ته دوی پټ ساتلے دی هغه دلته مراد دی.

سـ۲۷ دا تخویف ډ حال ډ زنکدن دے. او حرف ډ فَا دلیل دے چه دا عذاب به په سبب ډ مخکښے ذکر شوی صفاتو او احوال سره وی. تخصیص ډ مخونو او شاګانو په دے وجه سره دے چه په وخت ډ اعلانِ قتال کښې ډ دوی په مخونو باندے آثار ډ خفګان ښکاره کیده او دغه مخ به ئے. پټ کوو هسے نه چه په قتال کښې په هغے باندے ګذار اولګی او شا به ئے ګرځوله په وخت ډ تختیدلو کښې نو په دے ایت کښې ډ دوی بو حال ذکر شو. دا رنګ په سورة انفال سـ۵۰ کښې هم تیر شویدی.

سـ۲۸ په دے ایت کښې ډ دوی د رے حالتونه ذکر کوی او هغه اسباب دی ډ تیر شوی عذاب (ضرب ډ مخونو او ډ شاګانو) په طریقه ډ لف نشر مرتب سره یعنی وهل ډ مخونو په سبب ډ اتباع ډ مَا اَسْخَطَ سره دی او وهل ډ شاګانو په سبب ډ کراهت ډ رضا ډ الله تعالیٰ دی او په دغه دواړو باندے احباط ډ عمل مرتب کړے دے.

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ﴿۲۹﴾

چه په زړونو د دوی کښې مرض (کینه) دے چه راښکاره نه کړی الله تعالیٰ کینے د دوی (د مؤمنانو سره)

وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ

او که مونږ اوغواړو نو او به خایو تا ته دوی نو او به پیژنے دوی لره په نخښو د دوی سره، او ضرور به ته خامخا اوس پیژنے هم

فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۰﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ

په چالاکو خبرو کښې او الله تعالیٰ پوهه دے په عملونو ستاسو ۔ او ضرور ازمیښت کوؤ مونږ به تاسو بانده

اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ سبب د غضب د الله تعالیٰ کفر کول دی او د هغې سره خداع او فساد او په مؤمنانو پورے استهزاء ئې وخندل کړیدی۔ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ سبب د رضا د الله تعالیٰ ایمان، توحید، اخلاص او اتباع د قرآن او سنت دے هغه دوی بد گنړی۔

فائده۔ رضوان ئې په صیغه د اسم سره او اسخط په صیغه د فعل سره ذکر کړیدی اشاره ده چه رضا د الله تعالیٰ غالبه ده په غضب د هغه بانده۔ اَعْمَالَهُمْ د دے نه مراد هغه اعمال حسنه دی چه منافقان ئې د نفاق د وجے کوی۔

ف۲۹ په دے کښې زجر دے او ذکر د یو حالت د منافقانو دے۔ او په کښې سره د منافقانو گیله ختموی۔ دوی وائی چه زمونږ قبائح ښکاره نه دی پکار۔ نو الله تعالیٰ او فرمائیل چه دا گمان د دوی غلط دے چه مونږ به د دوی قبائح نه ښکاره کوؤ۔ مَرَضٌ، نفاق او حسد او بغض د مؤمنانو سره د دوی د زړه مرض دے ځکه چه روستو لفظ اَضْغَانَهُمْ په هغې بانده دلالت کوی یعنی دا ټول صفات د منافقت د دوی د مؤمنانو سره د کینے کولو د وجے نه دی۔

ف۳۰ هر کله چه د منافقینو بعضے علامات او صفات ذکر شول او ټول ئې بیان نه کړل د دے وجه ذکر کوی په دے ایت کښې لَاَرَيْنٰكَهُمْ مراد د دے نه خودل د ټولو علاماتو دی لیکن لو دلالت کوی په امتناع د دواړو جملو یعنی د الله تعالیٰ مشیت په دے بانده نیشته نو ټول علامات د دوی د معرفت ئې تا ته نه دی خودلی۔ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ دا عطف دے لَاَرَيْنٰكَهُمْ بانده دے لیکن هر کله چه په هغې کښې معنیٰ د انتفاء ثابته شوه نو په دے جمله کښې هم معنیٰ د انتفاء ده یعنی ته ئې په علاماتو سره نه پیژنے۔ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ دا ذکر دے د یو علامت خاصه یعنی په وخت د لحن القول کښې به ئې ضرور پیژنے (باقے په بل مخ)

حَتّٰى نَعْلَمَ الْمُجٰهِدِيْنَ مِنْكُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ وَنَبْلُوَا

(ترڅو پورې چه جدا کړو مونږ جهاد کوونکی ستاسو نه او صبر کوونکی او ښکاره به کړو مونږ)

اَخْبَارَكُمْ ﴿۳۱﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ

(حقیقت) د خبرونو ستاسو۔ یقیناً هغه کسان چه کفر ئې کړیدے او منع کوی خلقو لره د لار

سوال:- دا جمله دلالت کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم ټول منافقان پیژندل او د آیت د سورة نو په ۱۰۱ کښ صراحتاً معلومیږی چه هغه ټول نه پیژندل؟

جواب:- د دے جواب ابن کثیر سورة تو په کښ لیکلے دے د هغے حاصل دادے چه دا د باب د توسم نه دے (یعنی په نخه سره پیژندل) او د دے نه دا نه لازمیږی چه ټول منافقانو په تعیین او په تفسیر سره پیژنی۔ حاصل د جواب دادے چه په لحن القول سره پیژندلے شی لیکن هر یو منافق په هر وخت کښ لحن القول نه کوؤ د دے وجے نه په ټولو باندے علم حاصل نه شو۔

سوال:- حدیث د مسند احمد کښ چه نبی صلی الله علیه وسلم د جُمعے په ورځ یو یو منافق ته آواز وکړو او د مسجد نه ئې اوشړلو او شپږ دیرش کسانو نومونه ئې واخستل نو معلومه شوه چه ټول منافقان ئې او پیژندل؟

جواب:- د دے نه معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم بعض منافقان پیژندلے دو ټول ئې نه وو پیژندلی۔ لَحْنِ الْقَوْلِ۔ لَحْن مائل کول د کلام دی د ظاهری معنی نه بلے معنی ته۔ ابو حیان وئیلی دی مراد تریته هغه کلمات دی چه ظاهراً اخاشته وی او مراد تریته قبیح وی لکه راعنا وغیره۔ لَحْن ورانے او چالاکی د خبرو ته وئیلے کیږی او لَحْن خطا ئې او غلطے د کلماتو ته هم وئیلے کیږی دا ټولے معانی دلته مراد کیدے شی۔ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ اضافت د پاره د استغراق دے یعنی ستاسو په ټولو عملونو ظاهری او باطنی باندے صرف الله تعالیٰ علم لری دا دلیل دے چه پیغمبر هم په ټولو اعمالو د مخلوق باندے علم نه لری۔

۳۱ :- مخکښ آیت کښ د معرفت د منافقانو د پاره یو علامت ذکر کړے وؤ په دے آیت کښ د دے معرفت او تمیز د پاره بله طریقه ذکر کوی چه هغه ابتلاء ده په مصیبتونو سره یا په عبادتونو او په فرضیت د جهاد سره او ابتلاء د الله تعالیٰ د حقیقت ښکاره کولو د پاره وی د دے وجے حَتّٰى نَعْلَمَ راوړو مراد د علم نه علم د

اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى

دَ الله تعالىٰ نه او خلاف كوى دَ رسول نه روستو دَ دے نه چه ښكاره شو دوى ته هدايت

لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ﴿۳۲﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

هيڅرے ضرر نه شي وركولے الله تعالىٰ ته هيڅ قسم او ضرور بے فائدے به كړى عملونه دَ دوى . اے ايمان

اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْۤا

والو اطاعت كوئ دَ الله تعالىٰ او اطاعت كوئ دَ رسول او مه برباد وئ

اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ

عملونه خپل (په مخالفت دَ دے دواړو) يقيناً هغه كسان چه كفر ئے كړيدے او منع كول كوى دَ لارے

اظهار او دَ تميز دے . الْمُجٰهِدِيْنَ عام دے قتال او نورو سختو اعمالو شرعيو ته .
وَنَبْلُوَاۡ اَخْبَارَكُمْ اخبار په معنىٰ دَ باطنى حالاتو دے چه اخلاص او نفاق وغيره دى
يعنى جهاد او صبر ظاهرى اعمال دى او اخلاص، نفاق باطنى اعمال دى دا ټول په
ابتلاء اتو سره ښكاره كيږى . دَ فضيل بن عياض رحمة الله عليه نه نقل دے چه هغه
به دا آيت اولوستلو نو ژړا به ئے اوكړه او دُعا به ئے كوله چه يا الله تعالىٰ زمونږ پټ
حالات مه ښكاره كوه ځكه دَ دے چه شرمنده نه شو .

۳۲ په دے آيت كښ زجر دے منافقانو او نورو كافرانو ته او دَ دوى پنځه حالات
ذكر كوى . وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مشاقه دَ شقاق او دَ شِق نه ماخوذ دے يعنى مخالفت دَ
رسول او دَ سنت دَ رسول په ضد او په عناد سره كوى په دا سے طريقے سره چه
خپله لار دَ نبى دَ لارے نه په بل جانب اوګرځوى . وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَكُمْ مراد دَ دے
نه هغه كيدونه او مكرونه دى چه په دشمنئ دَ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم
كښ دوى كوى .

۳۳ هر كله چه دَ منافقانو احوال ئے ذكر كړل نو اوس مؤمنان منع كوى دَ صفاتو دَ
منافقانو نه او ترغيب وركوى اطاعت دَ الله تعالىٰ او دَ رسول دَ هغه ته . وَلَا تُبْطِلُوْۤا
اَعْمَالَكُمْ مراد دَ دے نه تحذير دے دَ صفاتو دَ منافقانو نه چه مخكښ بيان
كړے شول چه هغه سبب دَ بطلان دَ عملونو دے . بيا دا جمله عامه ده هر ابطال
ته شامله ده كه په مخالفت دَ الله تعالىٰ او دَ رسول سره وى او كه په (پاتے په بل مخ)

اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ فَلَا

دَ الله تعالیٰ نه بیا مړه شي په دا سې حال کښې چه کافر وي نو هیچرې بخښنه نه کوي دوی ته الله تعالیٰ . نو کمزوري

تَهِنُوْا وَتَدْعُوْآ اِلَى السَّلْمِ ۖ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۖ وَاللّٰهُ

مه ښکاره کوئ او بلنه مه کوئ صلح کولو ته (دَ وجې دَ سستۍ نه) او حال دا چه تاسو اوچت یئ او الله تعالیٰ

مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

ستاسو ملګرې دې او هیچرې نه کموي ثواب دَ عملونو ستاسو. یقیناً ژوند دنیوي

مرتد کیدلو سره او که په شرك او کفر کولو سره وي.

فائده :- یو نفل یا سنت مونځ چه شروع وي او په دغه وخت دَ فرض جماعت شروع شي نو نفل او سنت به في الحال پریږدي روستو ولې به نه کوي دَ پاره دَ عمل کولو په دې حدیث "اذا اقیمت الصلوٰة فلا صلوٰة الا المکتوبة" او دې ته ابطال عمل ویل جائز نه دي بلکه دا خو موافقت کول دي په حدیث صحیح باندې. او دا رنګ نفل عمل نه پوره کول روستو دَ شروع کولو نه (سیوا دَ حج او عمرې) دا ابطال دَ عمل نه دې بلکه ترك دَ عمل اختیاري دې.

۳۴ روستو دَ خطاب دَ مؤمنانو نه زجر دې کافرانو ته. مخکښې ۳۲ په باره دَ ضدیانو عنادیانو کښې وو او دا په باره دَ جاهلانو کافرانو کښې دې. فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ اشاره ده که چرې دَ مرګ نه مخکښې ئې دَ کفر نه صحیح توبه کړې وي نو الله تعالیٰ به ورته بخښنه کړې وې.

۳۵ هر کله چه دَ کافرانو خبا ثتونه ئې ذکر کړه نو اوس مؤمنانو ته تشجیع ورکوي په جهاد کولو او منع کوي دوی لره دَ بې همته کیدلو نه. فَلَا تَهِنُوْا دا په سورة آل عمران ۱۳۹ کښې هم تیر شویدې دهن کمزوري ښکاره کول دي دښمن ته او حدیث کښې دَ هغې دوه اسباب ذکر شویدي محبت دَ دنیا ۲ ویره کول دَ مرګ نه. وَتَدْعُوْآ اِلَى السَّلْمِ دا دَ وهن یو صورت دې چه پخپله صلح کولو ته دعوت ورکوي نو دا وهن دې او دَ دې آیت دَ آیت دَ سورة انفال ۶۱ سره مخالفت نیشته ځکه چه هلته ئې شرط لګولې دې چه کافران هر کله دَ صلح طلب کوي نو بیا صلح کول جائز دي او دلته مراد دا دې چه تاسو دَ اول سر نه طلب دَ صلح مه کوئ. دَ دې وجې نه په حدیبیه کښې صلح په طلب دَ کافرانو سره شوې وه.

لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا يُؤْتِكُمْ أُجُورَكُمْ

لوبے او مشغله ده او که تاسو ایمان راوړو او تقوئ مواد کړه نو درېه کړي تاسو ته ثوابونه ستاسو

وَلَا يَسْأَلْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ﴿٣٦﴾ إِن يَسْأَلْكُمُوهَا فَيُحْفِكُمْ

او نه غواړي الله تعالی ستاسو نه مالونه ستاسو - که چرے او غواړي ستاسو نه مالونه او زور درباندے اوکړي

وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ اوچت والے په عزت او په مرتبه کښ دے په نیز د الله تعالی یعنی ستاسو مرتبه په نیز د الله تعالی اوچته ده نو سپک کار مه کوئ - یا مراد اوچت والے دے په حجت او دلیل کښ. یا مراد دَ دے نه غلبه ده په عاقبت کښ اگر چه بعض اوقاتو کښ دَ بعض عوارضو دَ وجے نه مؤمنان مغلوب شی. او تشجیع دَ پاره ئے درے علتونه ذکر کړے دی اول انتم الاعلون - دویم والله معکم - دریم ولن یترکم الخ. وَاللَّهُ مَعَكُمْ په معنیٰ دَ ملگرتیا او مدد کولو سره استعمالیږی او دا ښکاره معنیٰ ده تاویل نه دے نو معلومه شوه چه معیت دَ متشابهاتو نه نه دے لکه چه امام بخاری او نور سلفو هم دا معنیٰ ذکر کړے ده او دَ بعضو علماؤ په نیز دا دَ متشابهاتو نه دے یعنی معیت نه معنیٰ ظاهری مراد ده او کیفیت دَ هغے باندے الله تعالی ښه پوهیږی لیکن دا توجیه ضعیفه ده ځکه چه په عقیده دَ فوقیت دَ الله تعالی کښ شبهه پیدا کوی. وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ دا په مقابل دَ سیحبط اعمالهم کښ دے او مراد دَ دے نه ثواب دَ اعمالو صالحو دے.

۳۷ په دے ایت کښ تزهید فی الدنیا ذکر کوی ځکه چه محبت دَ دنیا سبب دَ وهن دے او دا رنگ ترغیب ورکوی انفاق فی سبیل الله ته. إِنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا هغه ژوند او هغه سامانونه چه دَ دین دَ پاره نه خرچ کیږی هغه دلته مراد دی.
لَعِبٌ وَّلَهْوٌ دا دواړه په دے مفهوم کښ شریک دی چه په بے فائدے خیز باندے مشغوله کیدل دی لیکن په لعب کښ ځان خوشحالول مقصد وی او دا اکثر دَ دهو بچو کار دے وی او په لهو کښ صرف ځان مشغولول وی سره راحوشحالی پکښ مقصد نه وی او دا دَ ځوانانو او دَ مشرانو خلقو کار دی - یا مراد دَ ایت نه تشبیه ده دَ زرختمیدلو دَ ژوند دَ دنیا یعنی دا ژوند داسے زر ختمیږی لکه دَ لعب او لهو وخت چه لگ وی او زرختم شی. وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا اشاره ده چه هر کله دَ ژوند دنیوی سره ایمان او تقویٰ جمع شی نو بیا په ریاتے په بل مخ

تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾ هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ

تو بُخل به اوکړئ او را ښکاره به کړي کینې ستاسو ۔ خبر شئ تاسو اے خلقو را بللے کیدلے شئ

لِتُنْفِقُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَ

دَ پاره دَ دے چه خرچه اوکړئ په لار دَ الله تعالیٰ کښ تو بعض ستاسو نه هغه دی چه بخل کوی او

مَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ وَاللّٰهُ الْغَنِيُّ

چا چه بخل اوکړو تو یقیناً بخل کوی (چه راوځي) دَ نفس دَ هغه نه او الله تعالیٰ بے حاجته دے

هغه سره ډیرے فائدے حاصلیږی۔ او په تقویٰ سره مراد په دے ایت کښ دَ بزدلے او وهن او دَ بخل نه بچ کیدل دی په جهاد او انفاق کولو سره۔ وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ په دیکښ څلور توجیهات دی اوله داده چه ستاسو نه ټول مالونه نه غواړی بلکه بعض حصّه دَ مال لکه لسمه شلمه اوځلویښتمه۔ دویم داچه ستاسو مالونه الله تعالیٰ دَ ځان دَ پاره نه غواړی بلکه ستاسو انفاق ستاسو دَ فائدے دَ پاره دے۔ دریم دا مالونه ستاسو مالونه نه دی بلکه دَ الله تعالیٰ دی نو هغه درنه خپل مالونه غواړی ستاسو مالونه نه غواړی۔ څلورم داچه نبی صلّی الله علیه وسلّم ستاسو نه په دعوت دَ دین باندے اجرت نه غواړی۔ په اول درے توجیهاتو سره دا ترغیب دے انفاق طرف ته۔ او په اخری توجیه باندے ترغیب دے ایمان او تقویٰ ته چه په دے اجرونه ملاویږی او ستاسو هیڅ خیز پکښ نه خرچ کیږی یعنی کټه ده او تاوان پکښ نیشته۔

۳۷ په دے کښ حکمت ذکر کوی چه الله تعالیٰ ستاسو نه ټول مال نه غواړی دَ پاره دَ دے چه شرمنده نشئ په ښکاره کیدلو دَ بخل او دَ کینے کولو سره۔ ځکه چه الله تعالیٰ مهربان دے او په خپلو بندګانو باندے پرده اچوی۔ فَيُحْفِكُمْ احفاء په لغت کښ انتهاء ته رسیدل دی په خبره کولو جګړه کولو او سوال کولو کښ۔
وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ دَ اخراج نه مراد راښکاره کول دی او مخرج ضمیر بخل ته راجع دے یا الله تعالیٰ ته راجع دے یا سوال او احفاء ته راجع دے او روستنئ جمله دلیل دے چه دا خطاب منافقانو ته دے ځکه چه دَ مخکښ نه معلومه شوه چه دا صفتونه (بخل، ضغن) دَ منافقانو دی۔

وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

او تاسو حاجتمند يئ او كه چرے مخ واړوئ تاسو نو بدله كښ به راولى

قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ۝٣٨ ع

نور خلق سيوا ستاسو نه بيا به نه وى هغوى ستاسو پشان۔

ف۳۸ عكښ ايت كښ بخل ذكر كړے شو په هغه وخت كښ چه ټول مال ترينه طلب كړے شى نواوس ترقى كوى په زجر كښ چه ټول مال خو پريږده كه لږه حصّه ترينه دَ انفاق فى سبيل الله دَ پاره طلب كړيشى نو هم دوى بخل كوى۔ فَمِنْكُمْ مَنْ يَّبْخَلُ دويم قسم يئ حذف كړے دے يعنى منكم من يجود ليكن دلته بخلاؤ ته زجر مقصد دے دَ دے وجے نه دا يو قسم يئ ذكر كړو۔ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ په عَنْ حرف كښ اشاره ده چه دا بخل پيدا شويدے دَ دوى دَ نفوسو خبيثو نه۔ وَاللّٰهُ الْغَنِىُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ دا ف۱۵ سورة فاطر ف۱۵ كښ هم تير شوى دى ليكن دلته يئ والله الغنى عكښ ذكر كړے دے او هلته كښ روستو وجه داده چه دلته دفع دَ وهم مقصد ده وهم دادے چه الله تعالىٰ امر دَ انفاق كوى نو معلوميږى چه الله تعالىٰ محتاج دے نو دَ دے په جواب كښ والله الغنى وړاندے ذكر كړو او په سورة فاطر كښ رد دَ شرك فى الدعاء مقصد وؤ نو فقر دَ مخلوق يئ عكښ ذكر كړو چه دا مخلوق دَ الله تعالىٰ سره څه رنګه شريک جوړيدے شى دوى خو بخپله محتاج دى۔ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا دا عطف دے په ان تؤمنوا وتتقوا باندے په ف۳۶ كښ يا واو استينافيه دے اِنْ په مقام دَ شك كښ ذكر كيږى نو معلومه شوه چه مخاطبين چه صحابه كرام دى هغوى مخ نه وؤ اړولے دَ دے وجے نه دَ هغوى په ژوند كښ دَ دين حفاظت الله تعالىٰ په بل چا باندے دَ هغوى په بدله كښ نه دے كړے هاں هركله چه دَ سلف صالحينو دَ زمانے نه پس دالو نه روستو رفته رفته عربو مخ واړوؤ نو الله تعالىٰ دَ دين كار عجمو ته اوسپارلو۔ يا دا خطاب منافقانو دَ مدينے ته وؤ چه هغوى وخت په وخت دَ جهاد او انفاق نه مخ اړوؤ نو الله تعالىٰ هغوى رفته رفته هلاك كړل او انصار يئ دَ هغوى په ځائے باندے دَ دين دَ حفاظت دَ پاره قائم كړل۔

ختم شو تفسير دَ سورة محمّد په فضل دَ الله تعالىٰ سره او په توفيق دَ هغه سره۔

آیاتها ۲۹	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	سُوْرَةُ الْفَتْحِ
۴ رکوعاتها		۴۸ مَدَنِيَّةٌ ۱۱۱

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ① لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ

یقیناً فتح درکړه مونږ تاته فتح ښکاره . د دے د پاره چه بخښنه اوکړی تاته الله تعالیٰ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الفتح

ربط دَ دے سورت دَ مخکښې سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه هر کله چه امر دَ قتال اوشو په مخکښې سورت کښې نو په دے سورت کښې بشارت دے په فتح او په انزال السکینه سره . دویمه وجه هر کله چه په هغه سورت کښې مؤمنانو هغه اتلس صفات ئے ذکر کړل چه علتونه دَ تشجیع دَ قتال فی سبیل الله وو نو اوس دا سے اتلس صفتونه دَ هغوی ذکر کوی چه اسباب دَ رضا دَ الله تعالیٰ دی دَ هغوی ته .
دریمه وجه په هغه سورت کښې ذکر دَ نوم دَ محمد صلی الله علیه وسلم نو اوس په دے سورت کښې ذکر دَ عظمتِ شان دَ هغه دے څلورمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې منع وه دَ دعوت الی الصلح نه نو اوس په دے سورت کښې اشاره کوی که چرے کافران دعوت درکوی صلحے ته نو صلح اوکړئے دا فتح اوګڼړئے لکه صلح حدیبیه .

دعویٰ دَ سورت . زیرے ورکول نبی صلی الله علیه وسلم ته په فتح سره او عظمتِ شان دَ هغه او زیرے ورکول مؤمنانو (صحابه کرامو) ته په انزال السکینه سره او ذکر دَ صفاتو دَ هغوی .

او مسئله دَ توحید ئے په مختلف تعبیراتو سره په ۴ ، ۷ ، ۹ ، ۱۱ ، ۱۴ ، ۲۶ ، ۲۷ کښې راوړے ده او نهه اسماءِ حسنیٰ دَ الله تعالیٰ .

خلاصه دَ سورت دا تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۸ پورے دے په دے کښې دوه بشارتونه دی او دَ هر یو سره متعلق څلور څلور امور ذکر دی بیا صداقت دَ رسول او عظمت شان دَ هغه سره دَ ذکر دَ توحید نه بیا توی بیا اس قباحتونه دَ منافقانو زجرًا او ذکر دَ عذر والو دے په ۱۷ کښې .

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ

دَ هغه چه مخکښې تیر شویدی دَ خطا ئے ستا نه او هغه چه روستو شویوی او پوره کوی نعمت خپل

عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴿٢﴾ وَّيَنْصُرَكَ

په تا باندے او کلکه وی تالره په لار نیغه باندے - او مدد به کوی تاسره

تفسیر سلا مراد دَ فتح نه په صحیح قول کښې صلح دَ حدیبیه ده چه سبب دَ فتح دَ اسلام او گرځیدله په دلیل دَ حدیث دَ براء بن عازب رضی الله عنه سره هغه ویلے دی چه تاسو فتح دَ مکے فتح گنړے هاں هغه خو یو فتح ده او مونږ بیعت الرضوان فتح گنړو۔ او دا رنګ روایت دَ انس رضی الله عنه دے هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ صلح حدیبیه نه واپس شو نو په صحابه کرامو باندے ډیر غم او خفگان وو نو دا آیاتونه نازل شول او نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا ماته دَ ټولے دنیا نه زیات خوږ دی امام زهری رحمة الله نه نقل دے چه دَ صلح حدیبیه نه غټه فتح بله نه وه دَ دے دَ وجے نه چه مشرکان دَ مسلمانانو سره خلط شول دَ هغوی خبرے ئے واوریدے نو اسلام کښې داخل شول او په دوه درے کاله کښې ډیر خلق مسلمانان شول۔ فَتْحًا مُّبِينًا په دے کښې ډیر معجزات ښکاره شول او سبب شو دَ غلبے دَ اسلام او قتال پکښې هم او نشو دَ دے وجے نه مبین صفت ئے ذکر کړو۔

سلا سلا دا ذکر دَ څلورو فائدو دے په فتح کښې دَ پاره دَ نبی صلی الله علیه وسلم۔

اوله فائده :- لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ لام دَ پاره دَ عاقبت او غایئے دے یعنی فتح سبب دے دَ پاره دَ دے څلورو فائدو او وجه دَ سببیت دا ده چه فتح مبین دَ وجے دَ جهاد او دَ قتال فے سبیل الله او دَ نورو تکالیفو تیرولو نه روستو راغله او دغه کارونه سبب دَ مغفرت دَ گناهونو دی ځکه چه ان الحسنات یذهبن السیئات هود ۱۱۴ او مشهوره ده چه إِنَّ الْعَطَايَا عَلَى مَتْنِ الْبَلَايَا (یقینا بخششونه دَ مصیبتونو په شا باندے وی) دویم قول دا دے چه لام دَ پاره دَ علت دے یعنی فتح مبین ئے دَ دے دَ وجے نه درکړه چه الله تعالی مغفرت کړے دے او دا نور کمالات ئے ورکړیدی۔ لیکن دا قول ضعیف دے ځکه دا څلور امور ئے په صیغه دَ مستقبل ذکر کړے دی او فتح ئے دَ ماضی په صیغے سره ذکر کړے ده نو راتلونکے څیز علت او سبب دَ تیر شوی دَ پاره نشی کیدلے۔

سوال :- لفظ دَ مغفرت او ذنب دلالت کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم (پاتے په بل مخ)

اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا ③ هُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ فِيْ

اللہ تعالیٰ مدد عزت والا . خاص اللہ تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے ده تسلی (یقین) په

گناهونه کړیدی او حال دا دے چه هغه او ټول انبیاء علیهم السّلام معصوم دی د گناهونو نه؟
جواب: په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه دا جمله مستلزم د گناهونو کولو دپاره نه ده د دے وجے نه چه د ذنب نه مراد خلاف الافضل کارونه دی چه هغه گناه نه دے لیکن د انبیاء علیهم السلام دپاره سبب د خفګان وی نو هغه خفګان الله تعالیٰ لرے کړی دے ته مغفرت ویلے شویدے. دویمه وجه مغفرت په معنیٰ د عصمت دے لکه شربینی دا قول نقل کړیدے یعنی الله تعالیٰ ته بچ ساتلے یے د گناهونو کولو نه په تیر شوی وخت کښ او هم په روستو وخت کښ. دریمه وجه دا جمله په ظاهر کښ تجویزیه ده لیکن په معنیٰ د تعلیق سره ده یعنی که چرے وی ستا مخکښ او روستو گناهونه نو الله تعالیٰ تا ته بخنه کړیده. مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ په دے کښ ډیر اقوال دی د مفسرینو. قول د مجاهد دا دے چه مخکښ د نبوت نه او روستو د نبوت نه.
دویم قول مخکښ د فتح نه او روستو د فتح نه. دریم قول مخکښ د دے وخت نه او روستو د دے نه. څلورم قول چه ارتکاب د منهی عنه یے کړے وی او مامور به یے پریخودے وی.
دویمه فائده:- وَيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكَ په دے کښ اشاره ده نزول د هغه احکامو ته چه روستو د فتح نه نازل شویدی او دا رنګ اشاره ده چه روستو د فتح نه ډیر متکبرین خلق په اسلام کښ داخل شی لکه سورة نصر کښ د فتح نه روستو وَرَاَيْتَ النَّاسَ يدخلون فی دین الله افواجا راغلے دے.
دریمه فائده:- وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا هدایت په معنیٰ د تثبیت سره دے یعنی فتح سبب شو دپاره د تثبت په دین باندے.
څلورمه فائده:- وَيَنْصُرَكَ اللّٰهُ نَصْرًا عَزِيْزًا **سوال:-** سورة نصر کښ نصرت د فتح نه مخکښ ذکر کړے دے او دلته یے فتح سبب د اخرت او ګرځوله نو معلومه شوه چه فتح په نصرت باندے مخکښ ده؟ **جواب:-** په هغه سورت کښ د نصر نه مراد اسباب د غلبے ورکولو دی او په دے ایت کښ مراد د نصر نه غلبه ورکول دی په ټولو دشمنانو باندے نو اشاره شوه د مکے فتح کولو نه او ورسره د دغے نه روستو چه کوم فتوح نبی صلی الله علیه وسلم ته حاصل شول.
عَزِيْزًا عزت والا یعنی د غلبے سره په عزت وی یا عزیز په معنیٰ د عزیز الوجود (یعنی بے مثاله نصرت) دے.

قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ؕ

زړونو دَ مؤمنانو کښې. دے دَپاره چه زياتې شي ايمان سره دَ ايمان دَ دوی نه،

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

او خاص الله تعالیٰ لره لښکرے دَ اسمانونو او دَ زمکے دی او الله تعالیٰ دے علم والا

حَكِيْمًا ﴿۴﴾ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ

حکمتونو والا. دے دَپاره چه داخل کړی مؤمنان سړی او مؤمنے زنانه جنتونو ته

سګ دادویم بشارت دے مؤمنانو ته په انزال السکینه سره. مراد دَ دے نه ګلکیدل دَ په دین او اطمینان دَ زړه دے او شبهات دَ زړه لرے کیدل دی سره دَ دے نه چه دَحدیبیه دَ سفر مصیبتونه او دَ کفارو منع کول او بغیر دَ مقصد دَ عمرے کولو نه وطن ته واپس کیدل او بعض شرطونه دَ صلح چه ظاهرًا دلیل دَ کمزورے وو مثل، دا ټول سبب دَ زیخ او دَ خفګان وو لیکن دَ هغے اثرئے دَ دوی دَ زړونو نه لرے کړو. دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه هره سکینه په قران کښې په معنیٰ دَ طمانیت ده بیا یو روایت کښې دَ سورة بقره دَ لفظ سکینه استثناء ده لیکن هغه استثناء صحیح نه ده ځکه چه هغه هم په معنیٰ دَ طمانیت ده. بیا دَ انزال السکینه باندے څلور فائدے مرتب کړے دی اوله فائده :- لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ او وجه دَ تفریع دَ دے فائدے داده چه هرکله شبهات دَ زړه نه لرے شول او ډیر معجزات دَ نبی صلی الله علیه وسلّم (چه په سفر حدیبیه کښې) ښکاره شول نو په دے سره ضرور ایمان زیات شو. او په دے زیادت دَ ایمان اقوال دی اول ایمان په شرائعو دَ دین باندے روستو دَ ایمان بالله والیوم الاخر نه دا روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے. دویم قول یقین په الله تعالیٰ او په رسول باندے وو نو هغه یقین نور زیات شو دا دَ ضحاك قول دے. یا دَ ایمان فطری سره ایمان شرعی یوځائے شو نو ایمان زیات شو دا روستو قول ضعیف دے ځکه دَ دے واقعے نه مخکښې هم ایمان شرعی وو.

فائده :- دا ایت دلیل دے چه په نفس ایمان کښې زیاتے او کمے راځی او امام بخاری رحمة الله دغه شان اته ایات دَ دے مسئلے په اثبات کښې ذکر کړے دی. مثلًا معلومه خبره ده چه په ایمان (یقین) دَ ابو بکر رضی الله عنه او په (یاتے په بل مخ)

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا وَيُكَفِّرَ

چه بهیږی لاندې د هغې نه ولې همیشه به وی دوی په هغې کښې او لرې به کړی

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عِنْدَ اللّٰهِ فَوْزًا عَظِيْمًا ۝۵

د دوی نه بدئ د دوی او دا ده په نیز د الله تعالیٰ کامیابی لویه۔

یقین زموږ کښې ډیر فرق دے۔ او بعض علماؤ د دے نه زیادت د ایمان په سبب د اعمالو کولو سره مراد کړے دے یعنی د چا چه عملونه زیات وی نو ایمان ئے زیات وی او د چا چه عملونه کم وی نو ایمان ئے کم وی۔ او دوی وائی چه نفسِ ایمان (یقین) کښې زیادت نه راځئ نو دا قول ضعیف دے بلکه د واړه زیادتو نه ثابت دی او بعض علماء د اطلاق د لفظ د زیادت نه مطلقًا احتراز کوی بلکه د زیادت تأویل په پوخ والی یا په ښکاره والی سره کوی او حال دا دے چه د دوی سره په عدم زیادت باندے هیڅ دلیل نیشته نو دا قول د دوی ډیر کمزورے دے د قرآن کریم تحریف معنوی ته نزدے خبره ده۔ هاں مجتهد د اجتهاد په خطائی سره ګناهګار نه دے لیکن په هغه پسے په د خطائی کښې تقلید کول سره د ظهور د مخالف دلیل نه ظلم دے۔ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دا علتِ حقیقیه د انزال السکینه دے یعنی اسباب د نصرت کله ملائک د اسمانونو او البدلی دی او کله حیوانات حشرات د زمکے او دا ټول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی۔ او هر کله چه اسباب د نصرت د هغه په اختیار کښې دی نو نصرتِ الٰهیه سبب د سکون د زړونو دے هغه د هغه په اختیار کښې دے۔

۵ دا دویمه او دریمه فائده ده مرتب ده په مجموعه انزال السکینه باندے د پاره د زیادت د ایمان یعنی په دے مجموعه باندے دخول د جنت او تکفیر د سیئاتو بنا دے۔ فائده ۱:۔ په قرآن کریم کښې چه کوم ځائے وهم وی د اختصاص د جنت په نارینه مؤمنانو پورے نو هلته کښې ذکر د زنانه مؤمنو هم کوی د پاره د دفع د وهم لکه دلته مسئلۀ قتال او د فتح ده چه دغه عمل اکثر د نارینو دے نو وهم راتلے چه جنت به هم په نارینو پورے خاص وی نو مؤمنات ئے ذکر کړل چه جنت په عمل د قتال پورے خاص نه دے د هغے نورا اسباب هم شته چه په زنانو کښې موجود وی نو د جنت حقدارے کیدے شی۔ او کوم ځائے کښې چه دا وهم نه وی نو مؤمنات جدا نه ذکر کوی ځکه چه هغوئی تابع دی د نارینو۔

وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَ

او عذاب به ورکړي منافقانو سړو او زنانه منافقو لره او مشرکانو سړو او

الْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ

زنانو مشرکو ته چه گمانونه کوي په الله تعالی باندے گمان ناکاره په دوي باندے دي

دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ

مصيبتونه ناکاره او غضب کړيدے الله تعالی په دوي باندے او لعنت ئے کړيدے او تيار کړيدے

لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ۝ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ

دوي لره جهنم او ناکاره دے ځائے د ورگرځيدلو . او خاص الله تعالی لره دي لښکرے

فائده ۱۰:- تکفير د سيئاتو په اصل کښ د دخول د جنت نه مخکښ دے ليکن روستو ئے د دے وجے نه ذکر کړو چه اول انسان اهل د دخولِ جنت اوګرځي په حسناتو سره نو بيا ترينه تکفير د سيئاتو کيدےشي.

۱۱. داخلورمه فائده ده يعني سکون او نصرت د مؤمنانو سبب د غمونو او خفگانونو د دشمنانو دے او دا عذاب د دنيا دے او مراد د عذاب نه دلته عذاب دنيوي دے او هغه ذليل او مغلوب کيدل د منافقانو او کافرانو دي او دا رنګ تسلّط د مؤمنانو په دوي باندے په قتل کولو او قيد کولو د دوي سره . او هرکله چه دا قسم عذابونه په منافقانو باندے مخکښ او ډير راځي ځکه چه دوي مؤمنانو سره نزدے او سيږي د دے وجے نه د دوي ذکر ئے مقدم کړو . ظَنَّ السَّوْءِ دوي گمان کوي چه الله تعالی لره شريکان يا اولاد دي يا الله تعالی بغير د وسيلو (شريکيو) نه حاجتونه نه پوره کوي يا د الله تعالی صفات نيشته يا صفتونه ئے مشابه دي د مخلوق سره دے نه بد گمان ويلے کيږي. عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ دا سے په سورة توبه ۹۸ کښ هم تير شويدي او دا جمله خبريه ده اِخبار دے د الله تعالی د طرف نه يا دُعائيه ده په دُعا د شر سره نو تعليم دے د طرف د الله تعالی نه نيکانو بندګانو ته چه دا سے دُعا لوے او مراد د دائرة السوء نه مصيبتونه د دنيا دي په ذليل کيدلو او قيد کيدلو او مغلوب کيدلو او نور قسم عذابونو باندے . وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ دا دواړه چه کله جدا ذکر شي نو په يو معنی سره وي او کله چه يو ځائے ذکر شي (ريا تے په بل مخ)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝۷ اِنَّآ

دَ اسمانونو او دَ زمکے او دے الله تعالیٰ زورآور حکمتونو والا۔ یقیناً مونږ

اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝۸ لِّتُؤْمِنُوْا

لیږلے یې ته حق بیان کوونکے او زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے دے دَ پاره چه ایمان راوړئ تاسو

نو دَدوی په مینځ کښ فرق وی چه په غضب کښ صرف غصه اوخفه کیدل دی چه نتیجه دَ هغې بداله اغستل اوعذاب ورکول وی او په لعنت کښ دَدغه نه تولو سره دَ رحمت خاصه نه محروم کول مراد وی۔

سک دا علت دے دَپاره دَ عذاب دَ منافقانو او مشرکانو یعنی الله تعالیٰ دَدوی په عذاب ورکولو قدرت لری ځکه چه ټول لښکرے دَ هغه په تصرف کښ دی او دَ هغه ملکیت دے دَ هغې په ذریعه دوی لره عذابونه ورکولے شی او په سک کښ دَ مؤمنانو دَ نصرت دَپاره دا علت ذکر شوېوؤ او دَدے وجے نه دَ دے ایت په اخر کښ عَزِيْزًا یې ذکر کړو او دَ هغې ایت په اخر کښ عليمًا ذکر کړے وؤ۔ عزیز دَ دُشمن په مقابله کښ او علیم دَ مؤمنانو دَ تسلیٔ ورکولو دَپاره استعمالیږی۔

سه دا اثبات دَ صداقت رسول دے او متعلق دے دَ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ سره نو دا علت دَ فتح ورکولو دے یعنی فتح دَ دے وجے ورکړے شوه چه ته رسول برحق یې یا دا فتح مبین دلیل دَ رسالت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دے۔ شَاهِدًا شهادت په دنیا کښ مراد دے او شهادت په معنی دَ بیان کولو دَحق دے په غیر باندے یعنی ته به بیان او تبلیغ کوونکے یې او دَ بیان کولو دوه قسمونه یې ذکر کړل بشارت او انذار اوکه مراد دَ شهادت نه شهادت په عملونو مراد شی نو مراد تربیته صرف هغه خلق دی چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په زمانه کښ یې دَ هغه په روانده عملونه کول او ځوک چه دَدے نه ثابته وی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم حاضر و ناظر دے نو دا تحریف دَ قران کوی۔

فائده:۔ شَاهِدًا دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په صفت کښ چه ذکر دے نو په دنیا کښ شهادت مراد دے او شهید چه دَ هغه په صفت کښ ذکر دے نو په اخرت کښ مراد دے۔

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ؕ وَتُسَبِّحُوْهُ

په الله تعالٰی او په رسول دَ هغه او مدد اوکړئ دَ هغه (دَ دین) او عزت يې اوکړئ، او پاکي وائي دَ هغه

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ﴿۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا

صباح او بيګاه . يقيناً هغه کسان چه بيعت کوی ستا سره نو يقيناً

يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ؕ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ

بيعت کوی دوی دَ الله تعالٰی سره لاس دَ الله تعالٰی دَ دوی دَ لاسونو دَ پاسه دے نو چا چه

سو په دے کښ څلور فائدے دَ ارسال دَ رسول ذکر کوی اوله فائده ايمان بالله والرسول دے اشاره ده چه ايمان تفصيلی په اتباع دَ رسول حاصليږی دويمه فائده وَتُعَزِّرُوْهُ ضمير الله تعالٰی ته راجع دے نو مراد دَ دے نه نفی کول دَ ولد او شريک دی دَ الله تعالٰی نه او رد کول دی په مشرکانو باندے . يا راجع دے رسول ته نو مراد دا دے چه دَ هغه دَ دين او دَ سنت دَ مخالفت کولو نه په خلقو لره منع کوئ او دَ هغوی شبهات به دفع کوئ . دريمه فائده وَتُوَقِّرُوْهُ په دے ضمير کښ هم دواړه احتمالونه دی او توقير دَ الله تعالٰی دَ هغه نوم په عزت سره ذکر کول دی دَ هغه بندګی خاص کول دَ هغه په صفاتو دَ کمال باندے ايمان راوړل دی او توقير دَ رسول صلی الله عليه وسلّم هغه په صرف نوم سره آواز نه کول دَ هغه دَ سنت احترام کول دَ هغه دَ نوم سره صلوٰة سلام ويل دَ هغه پوره تابعداری کول دی . څلورمه فائده وَتُسَبِّحُوْهُ دا ضمير صرف الله تعالٰی ته راجع دے که تير شوی ضميرونه صرف پيغمبر ته راجع کړے شی نو بيا به په توقروه باندے وقف کيدے شی ليکن صحيح دا ده چه ضميرونه تير شوی الله تعالٰی او رسول هر يو ته راجع کيدل احتمال لری په تاويل دَ کل احد سره او ضمير دَ تسبحوه خاص دے په الله تعالٰی پورے . هاں بعض مفسرينو دا ضمير هم نبی صلی الله عليه وسلّم ته راجع کړے دے او دَ تسبيح معنٰی يې لغوی اخستے ده چه نبی صلّی الله عليه وسلّم پاک او معصوم دے دَ ګناهونو نه ليکن دا معنٰی په عرف او شرع کښ دَ تسبيح دَ پاره نه ده استعمال کړے شوے .

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا مراد ترينه ورځ او شپه دی ذکر دَ جُزء او مراد ترينه کل دے .

نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنْكُثُ عَلٰى نَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ اَوْفٰى بِمَا

مات کړو (بیعت) نو یقیناً ماتوی دَ پاره دَ ضرر دَ ځان خپل او چا چه پوره کړو هغه چه

عٰهَدَ عَلَيْهُ اللّٰهَ فَسَيُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ⑩ سَيَقُوْلُ

وعده ئې په هغې باندے دَ الله تعالیٰ سره کړیده نو زرده چه ور به کړی هغه ته ثواب لوئے - زر اوبه وائی

ع ۹

سنا روستو دَ اثبات دَ رسالت او دَ ذکر کولو دَ مقصد دَ رسالت نه بشارت دے تابعداری کوونکو دَ هغه ته او تشجیع ده په جهاد باندے اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ دا واقعه دَ بیعت الرضوان ته اشاره ده چه په دے سورت کښ دَ هغې تفصیل به راشی او دا بیعت دَ صحابه کرامو دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره وو بعض کسانو بیعت کړے وو په مرګ باندے او بعض بیعت کړے وو چه تیختنه به نه کوو او بعضو بیعت کړے وو په جهاد باندے (دا تطبیق دے په مینځ دَ مختلف روایتونو کښ). اِنَّمَا يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ دا دَ دے وجے نه چه هر قول او فعل دَ رسول صلی الله علیه وسلم په حکم دَ الله تعالیٰ سره دے (وما ینطق عن الهوی) او دا پشان دَ ومن یطع الرسول فقد اطاع الله (نساء سنه) دے - او مبایعت دَ بیع نه اخستلے شوے دے ځکه چه دوی (بیعت کوونکو) خپل نفسونه او مالونه په الله تعالیٰ باندے خرڅ کړیدی په بدله دَ جنت کښ لکه سورة توبه سالا کښ دی - يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ په دے کښ اشاره ده چه بیعت کښ دَ نارینه دَ پاره لاس ورکول شرط دی هاں زنانه دَ پاره لاس ورکول منع دی ځکه چه حدیث دَ عائشه رضی الله عنها کښ وارد دی (والله مامست ید النبی صلی الله علیه وسلم ید امرءة قط) قسم دے په الله تعالیٰ باندے چه لاس دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ لاس دَ (پردے) ښځے سره نه دے لګیدلے - بلکه بیعت دَ هغه دَ زنانو سره صرف په وینا کولو سره وو - يَدُ اللّٰهِ دَ ید معنیٰ ظاهری مراد ده چه لاس دے او دا رنګ دَ لفظ فوق معنیٰ اوچت والے دے لیکن بغیر دَ تمثیل او دَ تشبیه نه دَ مخلوق سره او کیفیت ئې مجهول دے دا عقیده دَ سلف صالحینو ده او چا چه تاویل کړے دے په نصرت یا په احسان کولو یا په حفاظت کولو یا په قوت وغیره سره دغه تاویلات ټول باطل دی ځکه چه مستلزم کیږی انکار دَ صفت دَ الله تعالیٰ لره بیا دا جمله مستلزم ده چه نصرت او امداد دَ الله تعالیٰ دَ مؤمنانو دَ محنت او عمل نه ډیر دے -

لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا

تا ته　پاتې کړے شوی　د　بانډچیانو نه　چه مشغول کړی یو مونږ لره مالونو زمونږ

وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ

او بالبچو زمونږ نو مونږ لره بخنه اوغواړه　وائي دوی　په خپلو ژبو باندے هغه خبرے چه نیشته

فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۚ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا

په زړونو د دوی کښې ته اووایه نو څوک د وس لری ستاسو د پاره د عذاب د الله تعالیٰ نه د بچ کولو

اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۚ بَلْ كَانَ اللّٰهُ

که چرے اوغواړی الله تعالیٰ په تاسو باندے تکلیف یا اوغواړی په تاسو باندے نفع ، بلکه　الله تعالیٰ دے

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴿١١﴾ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ

ستاسو په عملونو باندے خبردار -　بلکه گمان کوئے تاسو چه چرے به واپس او نه گرځي

فائده :- بعض خلقو د ید الله نه ید د رسول الله مراد کړے دے او وئیلی دی په عقیدهٔ د حلول او اتحاد سره چه لاس د الله تعالیٰ او لاس د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو گرځیدلے دی د هغوی دا قول ډیر کفریا تو لره مستلزم دے او په دے توجیه باندے بقاعی او خطیب شربیني لعنت وئیلی دے. فَمَنْ نَّكَثَ دا تخویف دے وَمَنْ اَوْفٰی دا بشارت دے عَلَيْهُ اللّٰهَ په قراءت د حفص کښې په ضمّه (پیښ) د ها سره دے د وجے د مقارنت (یوځیکیدلو) د دے نه د نوم د الله تعالیٰ　سره چه جلیل او عظیم دے -

سلا د دے ایت نه تر سلا پورے زجرونه دی منافقانو ته چه د دے سفر نه پاتے شوے وو د وجے د ویرے د قریش نه اگرچه نبی صلی الله علیه وسلم دوی ته قولاً او فعلاً بنکاره کړے وه چه مونږ اراده د جنگ نه لرو - فعلاً دا ده چه د ذوالحلیفه نه ئې احرام د عمرے او تړلو او هدایا ئې د ځان سره رواتے کړلے - بیا په دے ایاتو نو کښې لس قباحتونه د منافقانو ذکر کوی . په دے ایت کښې ئې درے قباحتونه د هغوی ذکر کړے دی - سَيَقُوْلُ دا دلیل دے چه دا وحی په حال د سفر کښې نازل شوے وه او دا پیش گوئي یقیناً رشتیا شوه نو دا اخبار بالغیب دے (پاتے په بل مخ)

الرَّسُوْلُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ اِلٰٓى اَهْلِيْهِمْ اَبَدًا وَّزُيِّنَ

رسول او مؤمنان (صحابه) خپل بال بچ ته هیچرے او ښه ښکلی شو ورته

ذٰلِكَ فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَظَنَنْتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ ۚۖ وَكُنْتُمْ

دا گمان په زړونو ستاسو کښې او گمان وکړو تاسو گمانونه بد او تاسو وئے

قَوْمًۢا بُوْرًا ﴿۱۲﴾ وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ

قوم تباه کیدونکی. او څوک چه ایمان نه راوړی په الله تعالیٰ او په رسول د هغه پاندے

دلیل دے په صداقت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم باندے. اَلْمُخَلَّفُوْنَ په صیغه دَ اسم مفعول سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه الله تعالیٰ دوی لره دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ ملگرتیا نه روستو پاتے کړل په سبب دَ نفاق دَ زړونو دَ دوی. شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا وَاَهْلُوْنَا دا دروغ عذر دے دَ پاره دَ پاتے کیدلو دَ دے عمرے نه یعنی دوی ویل چه دَ مالونو او دَ اهل وعیال حفاظت کول ضروری دی او زمونږ هیڅوك نائبان نیشته چه انتظام اوکړی په دے وجه مونږ مشغول شو. فَاسْتَغْفِرْ لَنَا نوطلب دَ مغفرت هم دَ دوی په طریقه دَ استهزاء سره دے په دلیل دَ روستو جملے سره. مَا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ یعنی دَ دوی په زړونو کښې اراده دَ استغفار نیشته ځکه چه دوی ځان ته گنهگار نه وائی.

قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ حاصل دا دے چه ستاسو پاتے کیدل دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم نه دَ پاره دَ حفاظت دَ مال او اهل تاسو نه هیڅ ضرر نه شی دفع کولے او تاسو ته څه فائده درکولے نشی. ضَرًّا هر قسم ضرر که لوئے وی یا وړوکے په اهل کښې وی یا په مال کښې دا رنگ نَفْعًا هم عام دے بَلْ اضراب دے دَ پټولو دَ دوی نه نفاق او حسد لره.

۱۳ دا هم زجر دے په ذکر دَ خلورو قباحتونو دَ هغوی سره دا بَلْ دَ پاره دَ ترقی دے یعنی دَ نفاق او حسد سره دوی په فاسد گمانونو پسے روان دی. اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ اه مراد دَ دے نه دا دے چه دوی دَ رسول او دَ مؤمنانو شان سپک گنړی او دَ مشرکانو شان لوئے گنړی دَ دے وجے نه دا گمان ئے کوؤ. وَزُيِّنَ ذٰلِكَ اه اشاره ده چه دا گمان کول بے اختیاره نه دی بلکه دوی په دے باندے خوشحاله دی چه رسول او مؤمنان ختم شی. ظَنَّ السَّوْءِ مراد دا دے چه الله تعالیٰ دَ دے رسول او مؤمنانو سره هیڅ امداد نه کوی ځکه چه دوی په دین باطل باندے دی.

فَإِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَعِيرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ

نو یقیناً تیار کړے دے مونږ کافرانو لره اورتیز بلیدونکے . او خاص الله تعالیٰ لره بادشاهي د اسمانونو

وَٱلْأَرْضِ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ

او د زمکے ده . بخنه کوی چاته چه او غواړی او عذاب ورکوی چاته چه او غواړی

وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿۱۴﴾ سَيَقُولُ ٱلْمُخَلَّفُونَ

او الله تعالیٰ دے . بخنه کوونکے رحم کوونکے . زر دے وائي به پاتے کړے شوی خلق

إِذَا ٱنطَلَقْتُمْ إِلَىٰ مَغَانِمَ لِتَأْخُذُوهَا ذَرُونَا نَتَّبِعْكُمْ

هر کله چه روان شئ تاسو غنیمتونو ته دے د پاره چه واخلئ هغه پریږدئ مونږ چه لاړشو تاسو سره

يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُوا۟ كَلَٰمَ ٱللَّهِ قُل لَّن تَتَّبِعُونَا

غواړی دوی چه بدل کړی دوی کلام د الله تعالیٰ ته او وایه هیڅ چرے مه ځئ زمونږ سره

كَذَٰلِكُمْ قَالَ ٱللَّهُ مِن قَبْلُ فَسَيَقُولُونَ بَلْ

دغه شان ویلی دی الله تعالیٰ د دے نه مخکښ نو زر دے دوی به اوائی بلکه

بُوْرًا جمع د بائر ده هغه خیز ته وائي چه خراب شی او هیڅ فائده او خیر پکښ نه وی. او کُنْتُمْ پخپله معنیٰ دے یعنی دوی د دے وخت نه پروانده هم بے کاره او شریان خلق وو. یا کُنْتُمْ په معنیٰ د صرتم دے یعنی اوس او گرځیدلے بے کاره او بے خیره.

۱۳ دا تخویف اخروی دے او اشاره ده چه د منافقانو ایمان شرعی نیشته نو دوی کافران دی.

۱۴ دا ذکر د توحید دے په ذکر د صفتونو د الله تعالیٰ سره او مقصد پکښ ترغیب دے چه د نفاق نه توبه اوکړئ نو الله تعالیٰ به درته بخشش اوکړی او علت هم دے د پاره د ماقبل یعنی الله تعالیٰ بادشاه دے چه چاله عذاب ورکوی نو هیڅوک ئے مقابله نه شی کولے.

تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ⑮

حسد کوئے تاسو زموږ سره بلکه دوی نه پوهیږی مګر لږ.

۱۵ په دے ایت کښ هم زجر دے په ذکر دَ خلورو قباحتونو دَ منافقانو سره. اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا مراد دَ دے نه غنیمتونه دَ خیبر دی او په دے تعبیر کښ اشاره ده چه دَ خیبر په غزوه کښ لګ تکلیف وو فتح دَ هغے اسانه او یقینی وه یعنی هرکله چه صحابه کرام دَ صلح دَ حدیبیه نه واپس شول تکلیفونه ورته ډیر اورسیدل او مقصد دَ سفر ئے هم حاصل نه شو نو دَ هغوی زړونو کښ خفګان وو دَ هغے دَ زائل کولو دَپاره الله تعالیٰ نبي صلی الله علیه وسلّم ته حکم اوکړو چه غزوه دَ خیبر ته هغه صحابه کرام بوځه کوم چه په سفر دَ حدیبیه کښ شریک وو او نورچا ته اذن مه ورکوه.

ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ نو هرکله چه فتح دَ خیبر اسانه وه او غنیمتونه حاصلیدل هم یقیني وو دَ دے وجے نه منافقینو دا مطالبه اوکړه چه موږ هم تاسو سره غزوه دَ خیبر ته ځو. او دا ښکاره دلیل وو په دے خبره باندے چه دوی ویلے وو شغلتنا اموالنا واهلونا چه دا عذر دَ دوی بلکل دروغ وو که دوی واقعي مشغول وے نو بیا خیبر ته دَ سفر کولو لے مطالبه کوی نو معلومه شوه چه دوی دنیا پرست دی په حدیبیه کښ دَ غنیمت څه طمع نه وه او په خیبر کښ دَ غنیمت یقینی طمع وه نو دَ غنیمت په نیت دوی خیبر ته تلل غواړی. كَلٰمَ اللّٰهِ مراد دَ دے روستو دواړه جملو کښ ذکر دے (قل لن تتبعونا کذا لکم قال الله من قبل) بعض مفسرینو ویلے دی مراد دَ دے نه وعده دَ الله تعالیٰ ده دَ اهلِ حدیبیه سره چه تاسو له به غنیمتونه دَ خیبر درکوؤم او بعضو مفسرینو ویلے دی چه مراد دَ دے نه امر دَ الله تعالیٰ دے نبي صلی الله علیه وسلّم ته چه خیبر ته دے نه ځی مګر صرف حدیبیے والا. په دے روستنو دواړو اقوالو کښ دا خفی ته کلام الله اُویلے شو یعنی احادیث هم دَ الله تعالیٰ کلام دے. بعض مفسرینو ویلے دی چه مراد دَ دے نه ایت دَ سورة توبه ۸۳ دے لیکن ابن جریر دَ دے قول رد کړے دے چه غزوه تبوک خو دَ خیبر نه روستو وه او هغه ایت خو دَ غزوه تبوک په سفر کښ نازل شوے دے.

فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا حاصل دا چه دوی دغه کلام دَ الله تعالیٰ خو دَ سره منی نه بلکه وائی چه تاسو دَ خیبر سفر یا غنیمتونو کښ چه موږ له شرکت نه راکوئے نو ستاسو زموږ سره حسد دے یعنی منافقان نسبت دَ حسد رسول الله صلی الله

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى

ته اوايه پاتے كړے شوے | بانډيچيانو ته | زر دے را او بللے شئ به جنګ د

قَوْمٍ اُولِىْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ ۚ

داسے قوم ته چه سخت جنګ والا دى | قتل به كوئ دوى سره ترڅو پورے چه اسلام راوړى

فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا

نو كه تاسو خبره اومنله | در به كړى تاسو ته الله تعالىٰ ښائسته ثواب | او كه چرے تاسو مخ اوګرځوؤ

كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ⑯

لكه چه تاسو مخ ګرځولے دے | د دے نه مخكښ عذاب به دركړى تاسو ته | عذاب | دردناك۔

عليه وسلّم او صحابه كرامو ته كوى۔ او حسد ويلے كيږى تمنّا كول د زوال د نعمتِ الٰهيه
د بل چا نه او د هغے زوال د پاره كوشش كول او حسد په هره طريقه سره چه وى نو
ګناهِ كبيره دے او حديث صحيح كښ چه وارد دى چه (لاحسد الا فى الثنتين) نو
مراد د حسد نه غبطه ده يعنى سيالى كول د بل چا د نعمت پشان د ځان د پاره
غوښتل د پاره د دے چه هغه سره برابر شى۔ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۔ بَلْ
د پاره د ترقئ دے يعنى كلام الله بدلول او نسبت د حسد نبى او مؤمنانو ته كول خوځه كوے
بلكه دوى جاهلان دى د دين او د الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خبرو
باندے نه پوهيږى اِلَّا قَلِيْلًا مراد د دے نه د دنيا خبرے دى لكه چه سورة روم
كښ دى۔

سلا په دے كښ اشاره ده اظهار د منافقت د دوى ته چه دوى ويلے وؤ ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ
نو د دے نه روستو دوى ته قتال فى سبيل الله كښ شريك شول نو دا قول به د دوى
رشتنئ وى او كه نه دروغژن به وى ۔ مِنَ الْاَعْرَابِ معلوميږى چه د حديبيه
نه صرف اعراب پاتے شوے وو د دے وجے نه دا لفظ ئے مخكښ هم ذكر كړے
وؤ او په دے ايت كښ هم ۔ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِىْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ مراد د دے نه
قتال د بنو حنيفه اهلِ يمامه دے چه هغوى ته ابوبكر رضى الله عنه دعوت وركړے
وؤ او فارس او روم دے چه هغوى ته عمر رضى الله عنه دعوت وركړے وؤ ۔
او بنا په دے تفسير باندے اشاره شوه چه د رسول الله صلى الله (باقى په بل مخ)

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَّ

نیشته په روند باندے گناه او نه په گوډ باندے گناه او

لَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ۭ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

نه په ناجوړه باندے گناه اوچاچه تابعداری اوکړه د الله تعالیٰ او د رسول د هغه

يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ

داخل به کړی دهٔ لره جنتونو ته چه بهیږی په لاندے د هغے نه ویالے او چاچه

يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ ۱۷ لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ

مخ اوګرځوو عذاب به ورکړی دهٔ لره عذاب دردناک. یقینًا رضا شوے دے الله تعالیٰ د

ع

علیه وسلّم نه روستو خلافت د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما حق دے ځکه چه د هغوی
د زمانے په قتال کښ شرکت کول ئے سبب د اجر حسن او شرکت نه اعراض ئے سبب
د عذاب ګرځولے دے. اول قول دا دے چه مراد د دے نه قتال د هوازن او ثقیف دے
یعنی غزوه د حنین او طاس او طائف لیکن په دے قول باندے اعتراض دے چه
لن تتبعونا او دارنګ سورة توبه کښ لَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا تیر شویدی د هغے نه
معلومیږی چه دوی ته نبی صلی الله علیه وسلم بیا دعوت نه دے ورکړے د قتال
کولو؟ جواب دا دے چه آیت د سورة توبه خو د غزوه حنین نه روستو نازل شویدے
او په لَنْ تَتَّبِعُوْنَا کښ منع مختص ده په غزوه خیبر پورے - حرف د سین په ستدعون
کښ دلالت کوی چه دا دعوت په زمانه د نبی صلی الله علیه وسلّم کښ دے نو روستنی
توجیه غوره ده او دغه قول د قتاده او د عکرمه دے. تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ یعنی
په دے دواړو کښ یو کار به وی قتال یا اسلام لیکن په
قرینه د سورة توبه سه۲۹ سره دا حکم د اهل کتابو باره کښ نه دے بلکه د هغوی نه جزیه
اغستل هم جائز دی. دارنګ بعض نورکافران چه په دلیل د حدیث صحیح سره د
هغوی نه هم جزیه اغستل جایز دی. كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ اشاره ده تولی د ورځ
د احد او حدیبیه او نورو واقعاتو ته -

سه۱۷ دا حکم معذورینو دے چه مستثنیٰ دی د فرضیت د قتال نه. وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ
وَرَسُوْلَهٗ په دے کښ اشاره ده چه علاوه د قتال نه نور اطاعت په دوی باندے د دوی

الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا

مؤمنانو (صحابو) نه کوم وخت چه بیعت کوؤ دوی تا سره (لاندې د) ونې نه نو خبروؤ الله تعالیٰ د

فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ

هغه څیزنه چه په زړونو د دوی کښ وؤ نو را ولیږله الله تعالیٰ تسلی په دوی باندې او بدله ئې ورکړه دوی له

فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ وَمَغَانِمَ كَثِيرَةً يَأْخُذُونَهَا وَكَانَ اللَّهُ

فتح نزدې او غنیمتونه ډیر چه اخلی دوی هغه او الله تعالیٰ دے

د استطاعت موافق فرض دے لکه دعوت تبلیغ وغیره.

فائده ۱: اعمٰی ئې مخکښ ذکر کړو ځکه چه قتال کښ اول د نظر کولو ډیر ضرورت وی او ړوند والے دا سې عذر دے چه نه ځائله کیږی بیا ورپسې اعرج ذکر کړو ځکه چه روستو د صلاحیت د نظر نه د خپو د سلامتیا ضرورت دے او دا عذر هم نه ځائله کیږی او اوهر کله چه عرج (د یو خپې گډ والے) عذر دے نو په دواړو خپو شل کیدل خو ضرور عذر دے۔

فائده ۲: د حدیبیه نه کوم مسلمانان چه پاتې شویوؤ نو د هغوی دغه دوه عذرونه وو د دے وجه دا ئې خاص کړه په ذکر سره که نه د دے نه علاوه نور عذرونه هم شته چه په سورة توبه ۱۹۱ - ۹۲ کښ ذکر شوی دی یا په احادیث صحیحه کښ ذکر دی۔

۱۸ د دے ایت نه تر اخر د سورت پورې دویم باب دے په دے کښ اتۀ حالات د صحابه کرامو ذکر کوی کوم چه حدیبیه کښ حاضر وو او دوی له دنیوی او اخروی بشارتونه ذکر کوی او د دوی په مقابله کښ زجرونه دی منافقانو او مشرکانو ته بیا جواب د یو شبهې د منافقانو دے په اخر کښ عظمتِ شان د نبی صلی الله علیه وسلم دے او د عام صحابه کرامو لس صفات ذکر کوی۔

تفسیر: په دے ایت ۱۸ کښ د صحابه کرامو دوه حالتونه او دری بشارتونه ذکر کوی۔ لَقَدْ رَضِيَ په دے کښ اول بشارت دے په ډیر تاکید سره او سورة توبه ۱۰۰ کښ دا سې بشارت ټولو صحابو ته ذکر شوے دے او د دے لفظ د وجه نه بیعت د حدیبیې ته بیعت الرضوان وئیلې کیږی. إِذْ يُبَايِعُونَكَ او د دے سبب په اختصار سره دا دوؤ چه نبی صلی الله علیه وسلم حدیبیه مقام ته په اراده (پاتې په بل مخ)

دَعمرے تقریباً دِ پنځلس سوه صحابه کرامو نه اورسیدلو نو اول قاصد ئې مکے والو ته جواس بن امیه خزاعی رضی الله عنه اولیږلو لیکن دَ هغه مخ ته دیر مشرکان حائل شول او مکے ته ئې دَ تللو اجازت ورنه کړو بیا ئې عثمان رضی الله عنه اولیږلو هغوی عثمان رضی الله عنه ته اجازت ورکړو چه ته عمره اوکړه لیکن نبی صلی الله علیه وسلم او نورو صحابو ته اجازت نیشته نو عثمان رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه طواف نه کوؤم ترڅو پورے چه نبی صلی الله علیه وسلم نه وی کړے په دے خبرو اترو سره عثمان رضی الله عنه مکه کښ دیر ایسار کړے شو. اوخبرخور کړے شو چه هغه قتل کړے شوے دے نو دغه وخت نبی صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته دعوت ورکړو چه را شئ ما سره بیعت اوکړئ چه قتال به کوو او تیخته به نه کوو او نبی صلی الله علیه وسلم دغه وخت دَکیکر دَ اونے په سوری کښ ناست وؤ نو ټولو صحابو بیعت اوکړو او نبی صلی الله علیه وسلم خپل ښے لاس په خپل کس لاس کښ کیخودلو چه دا بیعت دَپاره دَ عثمان رضی الله عنه دے او دا واقعه دَ عثمان رضی الله عنه دَ رفعت شان دَپاره لوئے دلیل دے او یوحدیث کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه اور دَجهنم ته به نه داخلیږی هیڅوک دَ هغه چا نه چه دَدے اونے دَ لاندے ئې دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړے دے. اوسعید بن المسیب دَ خپل پلار نه روایت کوی چه زه هم په دغه بیعت کوؤنکو کښ شامل ووم نو هرکله چه راتلونکے کال مونږ په دغه لاره راغلو نو هغه اونه زمونږ نه بلکل هیره کړے شوه او عام تابعینو نو کښ لیکلی دی چه دَ عمر رضی الله عنه په دورِ خلافت کښے بعض خلق به راتلل او دَ یوے اونے دَ لاندے به ئې مونځونه کول په دے عقیدے سره چه دا متبرک مقام دے (دا اونه دوی په خپل خیال سره مقرر کړے وه) نو عمر رضی الله عنه حکم اوکړو دَ هغې اونے په پریکولو سره او هغه لاندے ئې بنده کړله. او کتاب الاعتصام شاطبی ویلے دی چه دا کار عمر رضی الله عنه دَ دے دَپاره اوکړو چه په دا سے تبرکاتو سره دَ شرک دروازه پرانستے نه شی لیکن افسوس په دے امت روستنی دا دے چه دوی دَ دیرو پیدا لو دَ خیز ونو ته او مکانونو دَ ناستے نه په دا سے طریقے سره حصول دَ تبرکاتو شورو کړے دے چه هر قسم شرک په هغے کښ کوی هغے ته سجدے کوی دَ هغې نه قائدے اغستل او مرضونه دفع کولو عقیده لری دَ هغې دَپاره نذر ونیاز هم پیش کوی دَ هغې په څوا کښ عرسونه هم کوی. فَاِنَّا یُؤْفَکُوْنَ. فَعَلِمَ مَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ مراد دَ ما فی قلوبهم نه صدق او اخلاص دے

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ⑲ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً

زور اور حکمتونو والا . وعده کړے دے الله تعالیٰ تاسو سره ډیرو غنیمتونو

تَأْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ

چه اخلئ به تاسو هغه نو زر ئې درکړو تاسو ته دا او بند ئې کړو لاسونه د خلقو

عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ

ستاسو نه او د دے دپاره چه شي نخښه دپاره د مؤمنانو او کلک کړی تاسو لره

صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ⑳ وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا

په لار نیغه باندے او نور غنیمتونه چه ستاسو وس نه دے برشوے په هغې باندے

یعنی د بیعت کولو نه مخکښ د دوی اخلاص الله تعالیٰ ته معلوم وو. او فاء د علت دپاره ده یعنی الله تعالیٰ په وخت د بیعت کښ د دوی نه په دے وجه رضا شو چه الله تعالیٰ ته د مخکښ نه د دوی اخلاص معلوم وو. فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ دا عطف دے په رَضِيَ باندے یعنی رضا د الله تعالیٰ سبب اوګرځیدلو د دوی د اطمینان او د شجاعت د قتال دپاره سره د لګ عدد نه . وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا مراد د دے نه فتح د خیبر ده چه په واقعه د حدیبیه پسے متصل اوشوه او دا الله تعالیٰ عوض اوګرځوو دپاره د اخلاص د بیعت کولو.

ف ۱۹ دا عطف دے په فتحًا باندے او مراد تر ینه غنیمتونه د خیبر دی چه هغه زمکے باغات نقود او نور مالونه وو.

ف ۲۰ دا هم بشارت دنیویه دے او مراد د دے مغانم نه روستو د خیبر نه نزو ذات د نبی صلّی الله علیه وسلّم پورے ټول غنیمتونه دی. هٰذِهٖ . غنیمتونو د خیبر ته اشاره ده . وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ دا یل معجزانه انعام دے چه هرکله نبی صلی الله علیه وسلّم اراده د سفر د عمرے اوکړه نو یهودیانو قصد اوکړو چه مدینه باندے حمله کووُ دارنګ هرکله چه اراده د غزوه د خیبر ئې اوکړه نو قبائیلو د اسد او غطفان قصد اوکړو چه په مدینه باندے حمله اوکړی لیکن د دے ټولو په زړونو کښ الله تعالیٰ رعب واچوو او د خپلو ارادونه واپس شول . وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ دا عطف دے په مقدار (پټه) باندے یعنی تشکروه ولتکون او ضمیر په تکون راجع په یل مخ)

قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ

یقینًا راګیر کړیدی الله تعالیٰ هغې لره په علم خپل کښ، او دے الله تعالیٰ په هر څیز باندے

قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ

قدرت لرونکے ۔ او که چرے جنګ اوکړی تاسو سره کافران نو او به ګرځوی شاګانے

ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ

بیا به نه موندی دوی هیڅ دوست او نه مددګار ۔ پشان دَ طریقے دَ الله تعالیٰ

الَّتِيْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ

هغه چه تیره شوې ده مخکښ او هیڅ چرے او به نه مومے ته طریقے دَ الله تعالیٰ لره

تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ

بدلیدل ۔ او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه بندے کړل لاسونه دَ دوی ستاسو نه او لاسو نه ستاسو

کښ راجح دے عجلت دَ غنیمتونو دَ خیبر او دَ دشمنانو لاسونه دفع کولو ته په تاویل دَ مذکور سره ۔ او دَ مؤمنانو دَ پاره ایت (دلیل) شو چه الله تعالیٰ دَ دوی حفاظت کوی که دوی په کورونو کښ حاضر وی او که غائب وی یا دلیل شو په صدق دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندے ۔ وَیَهْدِیَکُمْ اه یعنی دغه معجزاته کارونه سبب دے دَ تثبت او دَ زیادت دَ ایمان دَ پاره ۔

سـ۲۱ـ دا هم داخل دے یشارت دنیویه کښ ۔ وَاُخْرٰی فعل پټ دے یعنی وعدکم مغانم اخریٰ ۔ او ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مراد دَ دے نه هغه فتوح دی چه روستو مسلمانانو ته ورکړے شوے وو لکه فارس او روم اګر چه په اول وخت کښ په هغې باندے قدرت نه وو ۔ قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا یعنی په علم دَ الله تعالیٰ کښ راګیر وو یا دا چه الله تعالیٰ ستاسو دَ پاره محبوس او محفوظ ساتلے وو۔

سـ۲۲ سـ۲۳ دا هم په بشارت کښ داخل دے یعنی کافران تاسو سره قتال نه شی کولے دَ دے وجے نه چه الله تعالیٰ ستاسو سره مدد کوی ۔ الَّذِیْنَ کَفَرُوْا مراد دَ دے نه مکے والا دی په واقعه دَ حدیبیه کښ یا مراد ترینه ټول کافران دی ۔ سُنَّةَ اللّٰهِ فعل یې پټ دے یعنی سَنَّ اللّٰهُ سنةً یا کاف تشبیهی پټ دے یعنی کسنّة

عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ؕ

دَ هغوی نه په مینځ دَ مکه کښې روستو دَ دے نه چه وس یې برکړو ستاسو په هغوی باندے

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾ هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او الله تعالیٰ دے ستاسو عملونو لره لیدونکے ۔ دا هغه خلق دی چه کفر یې کړیدے

وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا

او منع کړے یې تاسو دَ مسجد حرام نه او هدیو لره چه بندے کړے شوی دی

اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ

دَ رسیدلو نه ځائے دَ حلالے ته او که چرے نه وے سړی مؤمنان او زنانه

الله تعالیٰ او مراد نزرے نه امداد دَ الله تعالیٰ دے دَ تیر شوے انبیاء علیهم السّلام سره په مقابله دَ کافرانو کښې چه الله تعالیٰ هغوی سره امداد کړے وو او کافران یې مغلوب کړی او تباه کړے وو۔

<u>۲۴</u> دا هم ذکر دَ انعام دَ الله تعالیٰ دے په مؤمنانو باندے او دارنګ تائید دے دَ مخکښې آیت یعنی دَ قتال په وخت کښې په دوی شاګرځوی دَ وجے دَ امداد دَ الله تعالیٰ نه تاسو سره لکه چه په دے واقعه خاصه کښې الله تعالیٰ ستاسو مدد کړے دے ۔

وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ دَ ترمذی په روایت کښې راغلی دی چه اتیا کسان دَ کافرانو نه دَ جبل تنعیم دَ طرف نه دَ صبا دَ مانځه په وخت کښې راکوز شول او قصد یې کړے وؤ چه نبی صلی الله علیه وسلم لره قتل کړی نو صحابه کرامو دوی لره اونیول لیکن رسول الله صلّی الله علیه وسلم بیا دوی آزاد کړل ۔ دَ دے واقعے بنا مراد دَ بطن مکه نه حدیبیه ده دَ دے وجے نه چه دَ حدیبیے څه حصّه په مکه کښې یعنی (حرم) کښې داخل ده او بعض مفسرینو ویلی دی مراد دَ دے نه صلح دَ حدیبیه ده چه الله تعالیٰ تاسو په مکه کښې دَ جنګ کولو نه بچ کړئ اګرچه تاسو له یې غلبه او قدرت درکړے وؤ نو بنا په دے تفسیر باندے دَ بطن مکه نه نفس مکه مراد ده ۔

مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ

مؤمنې چه تاسو هغوی نه پېژنئ چه د خپو لاندې به ئې کړئ نو او به رسېږي تاسو ته د دوئ د وجې نه

مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ مَنْ

نقصان په بغير د پوهې نه د دې د پاره چه داخل کړي الله تعالیٰ په رحمت خپل کښې هغه چا لره

يَّشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا

چه او غواړي، که چېرې دوی لرې شول نو عذاب به ورکړو مونږ کافرانو ته د دوی نه عذاب

اَلِيْمًا ﴿۲۵﴾ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ

درد ناک. کله چه واچوؤ کافرانو په خپلو زړونو کښې غیرت

سے ۲۵ په دې ایت کښې حال د اهل مکه کافرانو بالخصوص ذکر کوی او دفع د وهم کوی که څوک
اُوائيُ چه صلح حدیبیه ولې اوکړې شوه بلکه الله تعالیٰ به امداد کړې وې د
مؤمنانو سره او په مکې والو باندې بهئې حمله کړې وې او قتال به شوې وې ؟
حاصل د جواب دا دې چه هاں سبب د قتال خو موجود وو هغه کفر د دوی او د
مسجد حرام نه منع کول د مؤمنانو او منع کول د هدایا چه دا روستنی دواړه د دې
مشرکانو په دین کښې هم ناروا وو. لیکن د قتال نه مانع موجود وو هغه وجود د کمزورو
مؤمنانو دې په مکه کښې او وجود د هغه کسانو چه الله تعالیٰ د هغوی د پاره ایمان راوړل
مقرر کړې وو یعنی که چرې په مکه کښې په دغه وخت قتال کړې شوې وې نو دغه
مؤمنان به یقین په غلطۍ او خطائۍ سره قتل کړې شوې وو. وَالْهَدْيَ دا عطف د ې
په ضمئر وکم باندې مَعْكُوْفًا دا حال دې او په معنیٰ د محبوسًا دې (ترلې شوې او بندې
کړې شوې) اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ دا بدل اشتمال دې د الهدیٰ نه یا مفعول له دې. قرطبی
وئیلې دی چه محل په زیر د حا سره غایة او منتهی ته وئیلې کیږي او مَحَل په زور د حا سره
ځائې د نزول او د دیره کیدلو ته وئیلې کیږي. دلته مراد د محل نه مکان د نحر او د ذبح
کولو د هدایه دې او هغه حرم شریف دې. وَلَوْلَا رِجَالٌ اه دا ذکر د مانع د قتال دې
او مراد د دې کسانو نه هغه مؤمنان دی چه د هجرت کولو نه په سبب د عذر سره یا د
کافرانو په جبر سره پاتې شوې وو. لَمْ تَعْلَمُوْهُمْ یعنی تاسو ته علم د هغوی د ایمان
نیشته یا تاسو هغوی شخصی طور سره نه پیژنئ. اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ دا بدل اشتمال دې

حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ

غیرت دَ جاهلیت نو را اولیږله الله تعالیٰ تسلي خپله په رسول خپل باندې

وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَىٰ وَ

او په مؤمنانو (صحابو) باندې او کلکه ئې کړه په دوی باندې کلمه دَ توحید او

كَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

وُو دوی ډیر حقدار دَ هغې او لائق دَ هغې او الله تعالیٰ دے په هر څیز باندې

دَ رِجَالٌ او نِسَآءٌ نه او مراد دَ دے نه پامال کول دَ هغوی دی په وخت دَ قتال کښې په قتل کولو زخمي کولو او وهلو سره. فَتُصِيبَكُمْ، فَا سببیه ده یعني پامال کول ستاسو هغوی لره سبب دَ مصیبت ستاسو دے مَعَرَّةٌ لسان العرب کښې ویلې دی چه معرّة ځائے دَ خارخ ته وائي او دارنګ ګناه او سختئ اذی (مصیبت) او جنایت او تاوان ته هم ویلې کیږی. نو دلته معنیٰ دا شوه که چرے تاسو مؤمنانو لره په بے علمئ سره وژلے وے نو لازم شوے به وے په تاسو پورے بدنامے لګول دَ کافرانو او دیتونه دَ قتیلانو ځکه چه یو مؤمن په دار حرب کښې وی او هجرت ئې نه وی کړے او دَ هغه دَ ایمان علم قاتل ته نه وی او قتل کړے شی نو په دے سره کفاره لازمیږی لکه چه سورة نساء ۹۲ کښې تیر شویدی. بِغَيْرِ عِلْمٍ اشاره ده عذر دَ مؤمنانو مجاهدینو ته ځکه چه کامل مؤمن بل مؤمن لره قصدًا نه قتل کوی. او دَ لَوْلَا جواب پټ دے لَأَذِنَ اللّٰهُ لَكُمْ فِي دُخُولِ مَكَّةَ أَوْ لَسَلَّطَكُمْ عَلَيْهِمْ. لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِي رَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ دا علت دے دَ محذوف دَ پاره یعني تاسو ئې مسلط نه کړئ په اهل مکه باندې دَ پاره دَ دے چه بعض کسانو لره توفیق دَ ایمان ورکړی او دغسې اوشوه ځکه چه روستو دَ صلح حدیبیه نه ډیر کسان مسلمانان شول. لَوْ تَزَيَّلُوا یعني که چرته دا مؤمنان دَ کافرانو نه جدا شی نو بیا به په دے کافرانو باندے ضرور عذاب راځی دَ قتاده نه روایت دے چه دا آیت دلیل دے چه دَ مؤمنانو په وجه الله تعالیٰ دَ کافرانو نه عذاب دفع کوی او دَ دے قسم ډیر مسائل مفسر قرطبي دلته ذکر کړے دی هغه اوګورئ.

عَلِيْمًا ﴿۲۶﴾ لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ

علم والا - یقیناً رشتیا کړے دے الله تعالیٰ دَ رسول خپل سره خوب په حقه سره

سـ۲۶ دا هم ذکر دَ سبب دَ قتال او ذکر دَ مانع دَ قتال دے. یعنی مشرکانو دَ قتال دَ پاره سبب جوړ کړے وو چه هغه حمیّت دَ جاهلیت وؤ او په دے کښ ډیر قباحت دَ مشرکانو ذکر کوی هغه دا دے چه دَ مسجدِ حرام او دَ عمرے نه منع کول خو دَ دوی په دین کښ هم جائز نه وو لیکن سره دَ دے نه دوی مؤمنانو لره منع کړل دا خالص جاهلیت دے او دَ جاهلیت غیرت دا وؤ چه په خط دَ صلح کښ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او محمد رسول الله لیکل ئے نه منل او دا رنګ دَ خپل معبودانِ باطله دَ پاره ئے حمیّت او عصبیّت کوؤ. صرف حمیتہ (غیرت کول) په حق باندے جائز دے لیکن په باطل باندے غیرت کول حرام دی دَ دے وجے دَ الحمية نه روستو حمية الجاهلية ئے ذکر کړو. فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ مراد دَ دے نه توفیق دَ صبر او استقامت دے په مقابله دَ حمية الجاهلية کښ او دیته رسول هم محتاج دے دَ دے وجے نه عَلٰى رَسُوْلِهٖ ئے ذکر کړو او دَ سورت په سـ۴ او سـ۱۸ کښ مراد تسلیم وؤ دَ صلح حدیبیه شرطو ته چه نبی صلی الله علیه وسلّم مقرر کړے وو لیکن دَ صحابه کرامو په زړونو کښ دَ هغے نه خفګان وؤ نو هغه خفګان الله تعالیٰ ختم کړو دَ دے وجے په هغه ایت کښ صرف په مؤمنانو کښ انزال السکینه ذکر کړے وو. وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى هغه کلمه چه په هغے سره دَ شرک نه بچاؤ کیږی او هغه کلمه دَ توحید ده او دا تفسیر قرطبی کښ په حدیث مرفوع او په اقوالو دَ صحابه کرامو سره هم ذکر کړے ده. او مراد دا دے چه مشرکان په شرک باندے کلک وو نو الله تعالیٰ مؤمنانو لره په توحید باندے کلک کړل یا مراد دا دے چه لازم ئے کړو په دوی باندے رعایت او لحاظ کول دَ کلمے دَ توحید یعنی دا سے طریقه اختیار کړئ چه په هغے سره کلمه دَ توحید او چتیږی. وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا په دے کښ اشاره ده چه دا الزام په دوی باندے جبرًا اکراهًا او دَ دوی دَ اهانت دَ پاره نه وؤ بلکه دا خو حقدار نه دَ هغه حق ورکول وو. او اَحَقَّ اسم تفضیل کښ اشاره ده چه کوم خلق دَ دوی نه روستو مسلمانان شوی دی نو هغوی حقدار دَ دے کلمے دی لیکن اصحاب دَ حدیبیے دِ تولو نه زیات حقدار وو. وَاَهْلَهَا په دیکښ اشاره ده چه حقدار ئے دَ دوی عارضی نه وه بلکه دوی په علم دَ الله تعالیٰ کښ دَ دے کلمے اهل وو او په دیکښ اشاره ده هغه حدیث ته چه اِخْتَارَهُمُ اللّٰهُ (الصحابة) لِصُحْبَةِ نَبِيِّهٖ —

لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ إِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ

ضرور داخلیږئ به په مسجد حرام ته چه الله تعالیٰ اوغواړی امن والا

مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ لَا تَخَافُوْنَ

خریونکی د سرونو خپلو او لنډوونکی د ویښتو نه به ویرېږئ د دشمن نه

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا

نو خبر وو الله تعالیٰ د هغه (حکمتونو) نه چه تاسو نه وئ خبر نو درکړه الله تعالیٰ د دې نه مخکښ فتح

قَرِيْبًا ﴿٢٧﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ

نزدې ۔ خاص الله تعالیٰ هغه ذات دې چه را اولیږلو ئې رسول خپل په هدایت سره او په دین

۲۷ دا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلّم او صحابه کرامو ته او متعلق دې د فانزل الله سکینته سره او جواب د سوال د منافقینو دې چه هغوی وئیل چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ویلي وو چه ما خوب لیدلې دې چه مونږ مسجد حرام ته داخل شو او عمره مو کړې ده او حال دا چه دې خو واپس د حدیبیې نه راغې او عمره ئې اونکړه نو په دې ایت کښ جواب دې حاصل ئې دا دې چه په خوب کښ دا سې نه وو ویلي شوي چه په دې کال کښ به وی نو دا تلونکی کال به دا خوب ضرور رشتنی شی ۔ الرُّؤْيَا دلته حرف د فِیْ پټ دې یعنی په خوب کښ ورته رشتیا ویلي وو ۔ یا صدق په معنیٰ د مضارع دې معنیٰ دا چه رشتنی به اوګرځوی خوب لره نو الرُّؤْيَا مفعول به شو ۔ بِالْحَقِّ د پاره د ښکاره کولو د حق او د حکمتونو ۔ تو پدیکښ د دې خوب فائدو او حکمتونو ته اشاره ده ۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ (سوال) دا کلمه د شک په مقام کښ استعمالیږی نو دا د الله تعالیٰ د شان سره مناسب نه ده؟ (جواب) په دیرو طریقو سره! اول دا چه ابوعبیده ویلي دی اِنْ په معنیٰ د اذ سره دې غوره دا چه په معنیٰ د اذا سره وی ۔ دویم دا کلمه د پاره د تعلیم د بندګانو خپلو ده ۔ دریم دا چه اِنْ په معنیٰ د کَمَا سره دې ۔ څلورم دا کلمه د تبرک د پاره ده لیکن بیا هم د تعلیم د بندګانو د پاره ده ځکه چه الله تعالیٰ تبرک ته محتاج نه دې ۔ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ دا اشاره ده پوره کولو د عمرې ته په تحلیل سره روستو د طواف او سعی نه او حلق (ویښته خرئیل) په تحلیل د احرام کښ غوره دې د قصر نه (راپټې په بل مخ)

الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

حق سره دَ دے دَپاره چه غالب کړی دهٔ لره په ټولو دینونو باندے او پوره دے الله تعالیٰ

شَهِيْدًا ؕ﴿۲۸﴾ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ

گواهی ورکوونکے. محمد صلی الله علیه وسلم رسول دَ الله تعالیٰ دے، او هغه کسان چه دَ دهٔ تابعدار دی (صحابه)

دَ دے وجے نه محلقین ئے مخکښ ذکر کړو هان عام حالات کښ قصر غوره دے دَ حلق نه په دلیل دَ دے سره چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم نه حلق بغیر دَ تحلیل دَ حج او عمرے نه ثابت نه دے او هغه حدیث چه په هغے کښ محلقینو ته درے کرته دُعا کړے ده هغه هم خاص دے په حالت دَ تحلیل بعد الاحرام پورے.

سوال :- محلقین حال دَ لَتَدْخُلُنَّ نه صحیح نه دے ځکه چه په حال دَ دخول کښ حلق نه دے جائز بلکه روستو دَ دخول او دَ طواف او سعی نه دے؟

جواب :- لفظ دَ اٰمِنِيْنَ کښ اشاره ده قدرت او تمکن موندل په پوره کولو دَ حج باندے صرف امن دَ دشمن نه مراد نه دے. لَا تَخَافُوْنَ دا هم حال دے.

سوال :- اٰمنین دلالت کوی په عدم خوف باندے نو دا لفظ ئے بیا ولے ذکر کړو؟

جواب :- دا دَ اثبات دَ دوام امن دَپاره دے روستو دَ عمرے کولو نه یعنی په حال دَ عمرے کښ به هم امن وی او روستو دَ هغے نه به هم خوف نه وی. فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا دا علت دے دَ مقدّر (ربط) دَپاره یعنی عمره کول ستا سو یو کال روستو کړے شوه نو فا په معنیٰ دَ علت سره ده. مَا لَمْ تَعْلَمُوْا اشاره ده هغه حکمتونو ته چه په صلح دَ حدیبیه کښ وو لیکن مؤمنانو ته دَ هغے کښ نه علم دَ هغے حاصل نه وؤ.

فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا. ذٰلِكَ اشاره ده خوب ته او دَ فَتْحًا قَرِيْبًا نه مراد صلح ده یا ذلك اشاره ده صلح ته او دَ فتح قریب نه مراد فتح دَ خیبر ده.

سـ۲۸ دا علت دے دَ لقد صدق الله اه دَپاره او ذکر دَ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلّم دے دَپاره دَ ردکولو په هغه مشرکانو باندے چه صلحنامه دَ حدیبیه کښ محمد رسول الله لیکلو نه ئے انکار کوؤ او ویل ئے چه مونږ ستا رسالت نه منو او دَ هغے په ځائے ئے محمد بن عبد الله اولیکلو. بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ مراد دَ هدیٰ نه قرآن دے او دین الحق دَ هغے تشریح ده په سنت سره یا مراد دَ هدیٰ نه عقیده ده او دین الحق نور احکام دی یا مراد دَ هدیٰ نه دلیلونه

أَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا

سخت دي په مقابله دَ كافرانو كښې رحم كوونكي دي په مينځ خپل كښې وينے ته دوي ركوع كوونكي

سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا ؗ سِيْمَاهُمْ

سجده كوونكي لټوي فضل دَ الله تعالىٰ نه او رضا دَهغه ، نخښے دَ دوي

فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ أَثَرِ السُّجُوْدِ ؕ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي

په مخونو دَ دوي كښې دي دَ وجے دَ نخښو دَ سجدو كولو نه، دا دَ دوي حال دے په

التَّوْرٰىةِ ۚۖۛ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيْلِ ۚ قف كَزَرْعٍ أَخْرَجَ

تورات كښې او حال دَ دوي په انجيل كښې پشان دَ كروندے چه راوباسي

شَطْأَهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ

تيغ خپل نو كلک كړي هغه نو غټ شي بيا برابر او دريږي په پنډو خپلو باندے

يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ ؕ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

خوشحالوي زميندارانو لره (عاقبت دا) چه غصه شي په سبب دَ دوي سره كافران، وعده كړيده الله تعالىٰ دَهغه كسانو سره

اومواعظ دَقران او دَحديث دي او مراد دَ دين حق نه مسائل او احكام دَدواړو دي.
لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ضمير اول راجع دے دين حق ته
يا راجع دے رسول ته او اظهار نه مراد غالب گرځول دي او الدِّيْنِ مفرد په معنیٰ
دَجمع سره دے. يا ضمير راجع دے رسول ته او اظهار نه مراد اخبار او اعلام دے
او الدِّيْنِ نه مراد ټول دين اسلام دے. وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا مراد تري نه شهادت دَ
الله تعالىٰ دے په حقانيت دَرسول الله صلى الله عليه وسلم باندے اگرچه مشركان
شهادت نه كوي په رسالت دَهغه باندے. او دا ۳۳ ايت په سورة توبه ۳۳ كښې او
سورة صف ۹ كښې هم دے ليكن په هغه سورتونو كښې رد په مشركينو اهلِ
كتابو باندے مقصد دے نو ذكر كړے وو ولوكره المشركون او په دے سورت كښې
په صلح كوونكو مشركانو باندے رد دے چه هغوي صلحنامه كښې په رسالت باندے
شهادت نه كوؤ.

آمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ

چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړیدی د سنت برابر د دوی ته بخښه او

اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۲۹﴾ ع

ثواب لوئے.

ف ۲۹ روستو د اثبات د رسالت او مقصد د رسالت نه اوس اوصاف د رسول او د صحابه کرامو ذکر کوی او دا لس صفتونه د صحابه کرامو په عام حالاتو کښ دی او تیر شوی اته احوال دوه صرف په حالت د بیعت الرضوان کښ. مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ دا شهادت د الله تعالیٰ دے په رسالت د محمد صلی الله علیه وسلم باندے لکه چه تیر شوی آیت په آخر کښ د هغے ذکر کړے شوے وو. وَالَّذِیْنَ مَعَهٗ دا عطف دے په ما قبل باندے کله چه محمد موصوف وی او رسول الله صفت ئې نو په دے مینځ کښ وقف نشی کیدے او روستو صفات د رسول الله سره د صحابه کرامو دی. یا مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ مبتدا او خبر دی او الَّذِیْنَ مَعَهٗ مبتداء ده او مابعد ئې خبر دے نو دا صفتونه صرف د صحابه کرامو دی او دا قول غوره دے. مَعَهٗ مراد د دے نه معیت د صحبت دے تر مرګه پورے او صرف صحابه ترینه مراد دی یا مراد ترینه معیت د تابعداری دے نو ټول مؤمنان ترینه مراد دی.

اَشِدَّآءُ عَلَی الْکُفَّارِ دا اول صفت دے او دا شدت د وجے د نفرت د کفر او د شرک نه دے. طبعی نه دے او د حسن بصری نه روایت دے چه په شدت کښ صحابه دا سے حالت ته رسیدلے وو چه خپلے جامے به ئې هم د کافرانو نه بچ ساتلے او بدنونه به ئې هم د هغوی د بدنونو نه ساتل د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه چا مشرک سره مصافحه او کړه نو لاس ډِ اُوینځی. دا هم د قبیلے د شدت نه دے. او مراد د شدت نه د مداهنت نه ځان ساتل دی او په دین حق باندے مضبوط پاتے کیدل دی شدت په طریقه د ګنځل کولو بد رد ویلو سره مراد نه دے د پاره د دے چه د قوله له قولا لینا (طه) سره منافات راشی. رُحَمَآءُ بَیْنَهُمْ دا دویم صفت دے مراد د رحم نه په یو بل باندے ترس کول او مینه. محبت کول او مدد کول او معاف کول دی دا سے په سورة مائده ۵۴ کښ هم ذکر دی. خطیب شربینی ویلے دی چه حق په مسلمانانو باندے په هره زمانه کښ دا دے چه د دے اخلاقو لحاظ ډِ اوکړی سختی ډِ کوی په هغه چا باندے چه دین اسلام والا نه دی او مؤمنانو سره ډِ نرمه ژړونه تیر دی په احسان او صله رحمی

او مدد کولو او اذیت دفع کولو او صبر کولو ته دوی ذ غلط نه. تَرٰىهُمْ دا اشاره ده چه دا صفتونه په دوی کښ یقینی دی. رُكَّعًا سُجَّدًا دا دوه صفتونه دی او دا اشاره ده اهمیت ذ صلوٰة او کثرت ذ هغې ته ذ دوی په عملونو کښ.

فائده: قیام یې ذکر نه کړو ځکه چه په حال ذ قیام کښ پوره نه معلومیږی چه دا انسان مونځ کوی او که نه او هرچه حالت ذ رکوع او سجود دے نو ښکاره نښه ده ذ مونځ کولو. يَبْتَغُونَ فَضْلًا الخ دا پنځم صفت دے ذ دے نه مراد اخلاص کول دی په ټولو عملونو کښ فَضْلًا مراد ترینه ثوابونه او جنت دے او رِضْوَانًا نو دا تخصیص دے روستو ذ تعمیم نه یعنی فضل عام دے او رضا خاص ده. او فضل یې مخکښ کړو په رضا باندے اشاره ده چه حق ذ بنده (ذ احتیاج ذ وجے نه) مخکښ دے په حق ذ الله تعالیٰ باندے یعنی فضل خو حق ذ بنده دے ذ طرف ذ الله تعالیٰ نه او رضا خو صرف حق ذ الله تعالیٰ دے او دا مراد دے ذ قول ذ فقهاؤ چه حق ذ عبد مقدم دے په حق ذ الله تعالیٰ باندے یعنی هغه حق چه الله تعالیٰ بنده له ورکړے دے هغه مخکښ دے په هغه حق چه خالص صفت ذ الله تعالیٰ دے. سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ دا شپږم صفت دے په دے کښ اشاره ده ډیرو مونځونو کولو ته او خصوصًا مونځ ذ تهجد ته. بیا په دے نښه کښ ذ مفسرینو دوه اقوال دی یو دا چه دا به په آخرت کښ وی ځکه چه حدیث صحیح کښ راغلے دی مضمون یې دا دے چه په ورځ ذ قیامت به الله تعالیٰ ملائکو ته حکم اوکړی چه ذ جهنم نه مؤحدین را اوباسئ نو ملائک به یې پیژنی په آثارو ذ سجدے ځکه چه کوم اندامونو باندے سجده کیږی نو اور ذ جهنم به هغه نه خوری. دا رنګ حسن بصری نه روایت دے چه مراد ذ دے نه سپین والے ذ مخونو ذ دوی دے په ورځ ذ قیامت، په دلیل ذ (يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ) سره. دریم قول دا دے چه دا به دنیا کښ دے یعنی علامات ذ تهجد کولو ذ شپے او ذ پیدا رے چه هغه خشوع او تواضع ده دا مجاهد ویلے دی او زیړوالے ذ مخونو ذ دوی دا ضحاک ویلے دی او دا نورانیت دے چه په مخونو ذ تهجد کوونکو متبعینو ذ سنت کښ معلومیږی او راجح دا ده چه دا جمله دواړه قولونو ته شامل ده یعنی په دُنیا او په آخرت دواړو کښ به دا سے نښے وی. او داخل دی په دا ایت کښ هر هغه خوک چه په ټولو مونځونو باندے محافظت کوی. او مفسر بقاعی ویلے دی چه دا ګمان مه کوئے چه مراد ذ دے نه هغه توره غوټه (نښه) ده چه په تندی ذ بعض کسانو کښ جوړه شوے وی دا خوارج دی او په نهایه ذ ابن اثیر کښ دی چه ابوالدرداء یو سړے اولیدلو چه ذ سترګو په مینځ کښ (یا تے په بل مخ)

داسے نښه ده نو هغه او فرمائیل که دا نه وے نوخه به وے - او د بعض متقدمینو علماؤ نه نقل دے چه مونږ مو ځ کوؤ لیکن زمونږ د سترګو په مینځ کښې څه خیز نه ښکاری او اوس خو خلق مو ځ کوی نو د سترګو په مینځ کښې د اوښ د زنګون پشان نښه ښکاری نو مونږ نه پوهیږو چه سر ونه د دوی درانه شوے دی او که زمکه زیګه شوی ده - او ابن کثیر د مجاهد نه نقل کړے دی چه کله کله دا نښه د دواړو سترګو په مینځ کښې د هغه چا وی چه زړه ئے د فرعون نه هم سخت وی. لیکن مراد د دے نه هغه کسان دی چه داسے نښه د ریا د پاره جوړه وی یا مشرک یا بدعتی وی او ډیر مو ځونه کوی او دا نښه ئے په تندی کښې جوړه شی نو د داسے کسانو دغه نښه د تندی دغه علماؤ بده ګنړلے ده.

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ دا اوم صفت دے د صحابه کرامو د مفسرینو نه دلته دوه قولونه نقل دی اول دا چه په دے ځائے باندے وقف کول دی یعنی دا مخکښې چه کوم صفات د صحابه کرامو ذکر شول نو داسے په تورات کښې ذکر دی او مَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ نه نوے کلام (جمله) شروع کیږی. دویم قول دا دے چه وقف به په فِي الْإِنْجِيلِ باندے وی او د كَزَرْعٍ نه نوے جمله شوره ده. لیکن غوره په دیکښې اوله توجیه ده او قرینه دا ده چه فی الانجیل سره لفظ د مثلهم مستقل ذکر کړے دے په ما قبل عطف دے نو فصیح کلام به داسے وے چه دویم مثلهم به ئے نه ذکر کولے او بله وجه دا ده چه دارمی او مشکوٰة باب فضائل سید المرسلین کښې د کعب الاحبار نه په صفت د رسول الله صلی الله علیه وسلّم او د صحابه کرامو کښې عبارت د تورات نقل کړے دے دا رنګ بقاعی په نظم الدرر کښې د دے ایت په تشریح کښې عبارت د تورات په وصف د صحابو کښې نقل کړے دے - وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ دا اتم صفت دے د صحابه کرامو په طریقه د مثال سره او حاصل د دے مثال دا دے چه نبی صلی الله علیه وسلّم اول دعوت شروع کړو نو کمزورے حالت وو اجابت به یو یو سړی کوؤ او ځان به ئے پټ ساتلو ځکه چه دشمنانو نه ویره وه لکه د فصل چه اول تیغ ښکاره شی نو کمزورے وی او مرغو د خوړلو ویره هم وی بیا الله تعالیٰ دعوت قوی کړو په مکه مکرمه کښې د عمر رضی الله عنه او د ډیرو صحابو د ملګرتیا په وجه سره دین ښکاره شو لکه تیغ د فصل قوی شی نو ښکاره شی د مرغو وغیره د خوړلو خطره ورباندے کمه شی بیا د صحابه کرامو په مکه کښې او د مکے نه بهر په ګردونواح او په حبش کښې پوره جماعت جوړ شو لکه فصل چه غټ شی او کلک شی نو بیا په مدینه منوره کښې خپل مستقل حکومت قائم شو لکه فصل چه پوخ شی او فائدے ئے علے شی. د قتاده نه روایت دے چه مثال

دَ اصحابو دَ محمّد صلّی الله علیه وسلّم په انجیل کښې لیکلی شوی دی چه رااوځی به یو قوم زرغون کیږی به په شان دَ زرغون کیدلو دَ فصل، امر بالمعروف او نهی عن المنکر به کوی. اَخۡرَجَ شَطۡـَٔهٗ شطأ ځی ته وېلې کیږی مراد ترینه تیغ دَ غنمو، وربشو، جوارو وغیره دی او اخراج کښې اسناد (نسبت) زرع ته مجازی دی یا ضمیر دَ فاعل الله تعالی دی. فَاٰزَرَهٗ دَ آزر نه ماخوذ دی قوت ته او دَ انسان ملا ته ویلې کیږی لکه اشدد به ازری. فَاسۡتَغۡلَظَ مراد دَ غلظت نه دا دی چه دا تیغ دَ فصل غټ شی دننګ والی او پلن والی ئی ډیر شی.

فَاسۡتَوٰی عَلٰی سُوۡقِهٖ سوق نه مراد تنه دَ هغه بوټی ده چه روستو دَ غټ والی نه په خپل ځائی برابر ولاړ وی هوا کانی ئی کګولی نشی او که کوګ شی نو دَ ویخ نه ئی نه شی ویستلی. یُعۡجِبُ الزُّرَّاعَ یعنی کروندګو کوونکی دَ خپل محنت نتیجه اُوینی چه فصل پوره شو یوخ شو نو هغه ډیر خو شحاله شی نو دارنګ نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ صحابه کرامو په ترقیٔ او په غټ جماعت او دَ دین په استقامت باندی خوشحاله شو او په دی جمله کښې اشاره ده دَ صحابه کرامو تهم صفت ته. تفسیر سراج المنیر کښې ویلې چه شَطۡـَٔهٗ کښې اشاره ده ابوبکر رضی الله عنه ته فَاٰزَرَهٗ کښې اشاره ده عمر رضی الله عنه ته او فَاسۡتَغۡلَظَ کښې اشاره ده عثمان رضی الله عنه ته. فَاسۡتَوٰی کښې اشاره ده علی رضی الله عنه ته.

لِیَغِیۡظَ بِهِمُ الۡکُفَّارَ په دی کښې اشاره ده لسم صفت دَ صحابه کرامو ته. او متعلق دَ دی لام حاصل دَ مخکښې عبارت دی یعنی دا صفتونه او دا ترقی چه په دواړه مثالونو کښې ذکر شوه الله تعالی صحابه کرامو ته دَ دی وجې نه ورکړی ده چه کافران په دوی باندی غصه شی او خفه شی.

ابن کثیر په تفسیر کښې لیکلی دی چه امام مالک رحمة الله دَ دی ایت نه استنباط کړی دی دَ کفر دَ روافضو چه بدګوری صحابه کرامو ته او یو ډلی دَ علماؤ دَ هغه سره موافقت کړی دی په دی مسئله کښې او قرطبی دَ امام مالک رحمة الله قول ذکر کړی دی چه هغه ویلې دی چه څوک سحر راپاسی او دَ هغه په زړه کښې په یو صحابی باندی بُغض او غیظ وی نو هغه ته دا ایت اورسیدلو یعنی دَ دی په حکم کښې داخل شو. بیا قرطبی په باره دَ عظمت شان دَ صحابه کرامو او دَ هغوی دَ اختلافاتو په باره کښې ډیر ښائسته تفصیل راوړی دی هغه دی اوکتلی شی.

وَعَدَ اللّٰهُ دا بشارت دی او صفت دَ ایمان او عمل صالح ئی (باتی په بل مخ)

ذکر کړو اشاره ده چه صرف صحبت دَ نبي صلّی الله علیه وسلّم سبب دَ جنت نه دے بلکه اصل سبب ایمان او عمل صالح دے مِنْهُمْ دَا مِنْ دَپاره دَ جنس دے دَ تبعیض دَپاره نه دے دَ دے وجے نه چه صحابه کرام ټول ایمان او عمل صالح والا او جنتیان دی لیکن مِنْ راوړلو کښې تاکید دے او اشاره ده چه هر یو صحابي مستقل دَ دے بشارت حقدار دے۔

فائده :- شربیني ویلي دي چه په دے ایت کښې ټول حروف معجم راجمع دي نو په دے کښې باریکه اشاره ده اتمام او اکمال دَ دین دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته په ملګرتیا دَ صحابه کرامو سره۔ الله تعالیٰ ته دُعا ده چه مونږ هم دَ دے وعدے حقدار اوګرځوي او دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم او دَ هغه دَ صحابو سره زمونږ پوره محبت پیدا کړي او دَ هغوي دَ اتباع کولو مونږ له توفیق راکړي اللّٰهم آمین۔

ختم شو تفسیر دَ سورة فتح په توفیق دَ الله تعالیٰ سره۔

سُوْرَةُ الْحُجُرٰتِ ۴۹ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۶ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ

اے ایمان والو مه وړاندے کیږئ دَ الله تعالیٰ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الحجرات ۔

ربط دَ دے سورت دَ سورۃ فتح سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه داده هر کله چه مخکښ سورت کښ شان دَ صحابه کرامو او دَ هغوی دَ ترقئ کولو په طریقه دَ مثال سره ذکر شو نو اوس په دے سورت کښ آداب ذکر کوی دَ پاره دَ دفع دَ اختلاف او تفرق په مینځ دَ هغوی کښ او دَ ټولو مسلمانانو کښ. دویمه وجه مخکښ سورت کښ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلّم ذکر کړو نو په دے سورت کښ دَ هغه دَ احترام کولو دَ پاره اصول ذکر کوی۔ دریمه وجه داده چه په هغه سورت کښ یو نوعه صفات اتلس دَ صحابو ذکر شول نو په دے سورت کښ نور اوصاف او احوال شپاړس ذکر کوی۔

دعویٰ دَ سورت ذکر دَ اصولو او آدابو دَ پاره دَ دفع دَ اختلاف او تفرق او دَ پاره دَ بقا دَ اتحاد او اتفاق چه هغه په طریقه دَ ۸ اوامرو او ۸ نواهی سره دی۔

خلاصه دَ سورت دا ده چه په دیکښ اُوه آداب ذکر کوی دَ پاره دَ دفع کولو دَ تفرق او بیا زجرونه دی منافقانو ته چه هغوی دَ دے آدابو لحاظ نه کوی او اوصاف دَ مؤمنانو دَ پاره دَ تمییز په مینځ دَ دوه ډلو کښ۔ او زجر دے په منافقانو باندے په دعویٰ کولو دَ ایمان سره چه دا دعویٰ دَ پاره دَ دے ده چه الله تعالیٰ خبر ورکوی یا دَ پاره دَ دے چه په رسول باندے احسان ښکاره کوی او دا دواړه ردی اخلاق دی او په آخر کښ رد دے په شرك فی العلم باندے۔

تفصیل دَ آدابو دا دے۔ اول ادب دا دے چه دَ قرآن او سنت په مقابله کښ دَ هیچا رائے او خپله رائے مه پیش کوئ په دے سره تفرق راځی۔ او رعایت کول دَ قرآن او سنت په ټولو امورو کښ او دَ هغے په مقرره اوقاتو کښ ۳ سلکښ او دویم ځان ۔ نج کول دَ توهین دَ صاحب دَ شرع او دَ احکامو شرعیو نه او رعایت دَ کیفیاتو او صفاتو دَ احکامو شرعیو کول په ۲ سلکښ بیا بشارت دے ادب کوونکو لره په ۳ کښ او زجر دے پر مخودونکو دَ (پائے په بل مخ)

وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ① يٰاَيُّهَا

او دَ رسول دَ هغه نه او يره کوئ دَ الله تعالىٰ نه يقيناً الله تعالىٰ هر څه اوري او په هر څه پوهيږي - اے

ادب لره په ۵ سَ کښ - دريم ادب ځان ساتل دَ قبلولو دَ خبر دَ فاسق نه دَ پاره دَ دے چه اختلاف
راشي او تحقيق کول دَ خبر دَ هغه او ترغيب دے اطاعت دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم
ته او عمل کولو ته په مقتضىٰ دَ ايمان باندے په ۶ سَ کښ - څلورم ادب امر کول په مصلحت
کولو سره په مينځ دَ مؤمنانو کښ دَ پاره دَ دفع کولو دَ اختلاف او جګړے کولو په ۹ سَ کښ .
پنځم ادب ځان - بچ کول دَ تذليل او تحقير دَ اهل ايمان نه په درے طريقو سره او دا پيدا کيږي
دَ تکبر کولو نه يعني تکبر مه کوئ دا په ۱۱ سَ کښ - شپږم ادب ځان بچ کول دَ هغه کارونو نه چه
اسباب دَ پيدا کښ دَ اختلاف او تفرق دي او دا پيدا کيږي دَ حسد کولو نه يعني بغض او حسد
مه کوئ دا په ۱۲ سَ کښ - اُوم ادب ځان بچ کول دَ فخر او تعصب نسبي نه دا هم سبب دَ تفرق
دے او دا پيدا کيږي دَ خوئ دَ جاهليت نه يعني دَ جاهليت دَ اخلاقو نه ځان بچ کړئ او اکرام
کول په سبب دَ تقوىٰ سره نه په نسب سره په ۱۳ سَ کښ - بيا دَ دے نه روستو بحث دے دَ اهل نفاق د.
تفسير ۱ سَ دا اول ادب دے دَ پاره دَ اتحاد او اتفاق پيدا کيدلو او دَ بچ کيدلو دَ تفرق او اختلاف
نه مفسر قرطبي ذکر کړيدي چه ايت عام دے ډيرو واقعاتو ته شامل دے شايد چه دا
ايت بغير دَ سبب خاصه نه نازل شوے دے - يعني خاص سبب نزول ذکر کولو ته ضرورت
نيشته - يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په اولو ادابو کښ دا ندا دَ پاره دَ دے ده چه دا دَ ايمان مقتضا کانے
دي يعني چه ايمان لرے نو دَ دے ادابو رعايت به کوے - لَا تُقَدِّمُوْا فعل متعدي دے دَ مفعول
ئے پټ دے يعني لا تقدموا ارائکم واقوالکم وافعالکم خپلے رائے او وينا کانے او عملونه
مه مخکښ کوئ يا په معنىٰ دَ لا تتقدموا (لازمي) دے يعني مه مخکښ کيږئ يعني مخالفت
دَ قرآن او سنت مه کوئ - بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ مراد دَ دے نه قرآن او حديث او حکم
دَ الله تعالىٰ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دے او لفظ دَ بين يدي په معنىٰ دَ مخامخ
حاضريدلو او دَ لاسونو سره او نزدے کيناستلو دے ليکن په طور دَ مثال او دَ کنايه سره
مراد دَ دے نه نفس حضور دے يعني حکم دَ الله تعالىٰ او دَ رسول حاضر دے نو دَ ځان
نه قول او عمل او رائے او وقات او طريقے مه جوړوئ - تفسير ابن کثير کښ ويلے دي چه
تلوار مه کوئ په هيڅ څيز کښ مخکښ دَ قرآن او سنت نه بلکه تابع شئ په ټولو کارونو
کښ دَ کتاب او سنت نزدے چه خپل قياس او اجتهاد هم په قرآن او سنت باندے مه مخکښ
کوئ او په دے باندے ئے حديث دَ معاذ رضى الله عنه په دليل کښ پيش کړيدے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ

ايمان والو مه اوچتوئ اوازونه خپل پورته دَ اواز

النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ

دَ نبي صلى الله عليه وسلم ته او په زوره وينا مه کوئ هغه ته پشان دَ زوره وينا ستاسو بعضو دَ

لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴿۲﴾

بعضو ته (ډيره نه) چه برباد به شي عملونه ستاسو او تاسو به نه پوهيږئ۔

چه هغه خپل اجتهاد بانده عمل کول دَ قران او سنت نه روستو ذکر کړے وو او نبي صلى الله عليه وسلم په هغے بانده ډير خوشحاله شو۔

فائده:۔ په دے ايت کښ رد دے په هر هغه حاکم چه قانون دَ قران او سنت نه مخالف چلوي دارنګ رد دے په هر مبتدع او بدعت بانده کله په عقيده کښ وي او که په اعمالو کښ وي۔ ځکه چه دوي خپل حکم او خپل جوړ کړے شوے بے دليله خبرے او کارونه دَ قران او سنت نه ورانده کوي بلکه هغے ته خلق رابلي۔ دارنګ معلومه شوه چه په قياس دَ مجتهد بانده هغه وخت عمل نشي کيدے کله چه په مخالفت دَ قران او دَ سنت کښ وي دارنګ رد دے په هغه چا بانده چه تحليل او تحريم دَ ځان نه جوړوي او رد دے په هغه چا بانده چه هغه اوقات چه په دليل شرعي سره دَ پاره دَ عباداتو مقرر وي او هغه بدلوي يا عام وي او دوي ئے خاص کوي يا خاص وي او دوي ئے عام کوي لکه چه قرباني دَ اختر دَ موقع نه روانده کوي ځوک بعض عبادتونه دَ جمعے په شپه يا ورځ پورے خاص کوي چا تخصيص دَ يو صدقے په خلويښتمه يا په کال پورے کړے وي، چا قضا دَ موقع په اخره جمعه دَ رمضان پورے خاص کړے وي۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ معلومه شوه چه دَ دے حکم دَ پابندئ کولو دَ پاره علاج تقوىٰ ده۔ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ هر کله چه تقدم يا په اقوالو کښ وي نو دَ هغے دَ پاره ئے سميع راوړو يا په اعمالو او عقيدو کښ وي نو دَ هغے دَ پاره ئے عليم ذکر کړو۔

۲ دا دويم ادب دے په ديکښ مقصد احترام او توقير دَ صاحب دَ شرع او دَ کلام دَ هغه دے او په دے کښ اشاره ده رعايت دَ سنت ته په کيفياتو او صفاتو کښ۔ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دا نداء ئے بار بار مقرر کړه دَ پاره دَ ډيرو فائدو او اوله فائده زياته توجه کول دَ مخاطبينو ده دويمه فائده چه دا وهم رانشي چه اول مخاطب او دويم ربا تے په بل مخ)

اِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ

یقیناً هغه کسان چه خکته کوی اوازونه خپل دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په

اللّٰهِ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ لِلتَّقْوٰى

خوا کښ دا هغه کسان دی چه ازمائلی دی الله تعالیٰ زړونه دَ هغوی دَ تقوی دَ پاره

مخاطب جُدا جُدا دی د ریمه فائده چه معلومه شی چه هر یو کلام جُدا جُدا مقصود دے۔

لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ اواز اوچتول خلور قسمه دے اول طبعی طور سره لکه واقعه دَ ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه ده دا جائز دے دویم قسم په بے پرواهئ سره اواز اوچتول چه هغه مناسب نه وی دَ مجلس دَ لویوخلقو سره او دَ توقیر دَ مشرانو سره دریم قسم په طور دَ سپکوالی او دَ توهین سره اواز پورته کول دا دواړه قسمو ته منع دی او دا په دے ایت کښ مراد دی یعنی دویم قسم حرام دے ځکه چه دا عادت تیول سپکوالی ته رسوونکے دے او دریم قسم کفر دے ځکه چه توهین دَ نبی صلی الله علیه وسلم کفر دے او دا قسمونه په ژوند دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښ دی او دا رنګ علماؤ لیکلی دی چه دا اداب په مسجد نبوی کښ روستو دَ مرګ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هم ضروری دی۔ خلورم قسم دا دے چه دَ کلام دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندے خپل اوازونه اوچتول دا هم حرام دی او دا شامل دے دیته چه په کوم ذکر باندے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوچتوالے دَ اواز او جهر کول ثابت نه دی نو په هغے باندے رفع صوت او جهر کول خلاف سنت دے۔

وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ دَ اولے جملے او دَ دے په مینځ کښ یو فرق دا دے چه په هغے کښ مراد وؤ چه خپل کلام او اواز دَ کلام دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ اواز نه اعلیٰ مه ګرځوئ او دَ دے جملے مطلب دا دے چه دَ نورو خلقو سره ئے مساوی او برابر هم مه ګرځوئ دویم فرق دا دے چه رفع الصوت عام دے که په وخت دَ خطاب کولو کښ وی او که بغیر دَ خطاب کولو نه وی او جهر کول په وخت دَ مخاطبه کښ دے او په دے جهر کولو کښ دریے طریقے دی اوله طریقه کلمه دَ ادب ویل دی لکه یا رسول الله لیکن په جهر طبعی سره هغه جائز دے دویمه طریقه دغه کلمه ویل په بے پرواهئ سره دریمه طریقه په طور دَ سپکوالی سره اواز کول دَ دے حکم هم مخکښ بیان شو خلورمه طریقه یا محمد ویل لکه چه سورة نور ۶۳ کښ هم

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ

دَ دوی دَپاره بخنه او ثواب لوئے دے۔ یقینًا هغه کسان چه اوزونه کوی تا ته

تیر شویدی لکه تفسیر قرطبی وغیره کښ ویلے دی چه خطاب مه کوئے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په یا محمد او یا احمد سره او دا سے آوازکول حرام دی. اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ یعنی بے ادبی دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم اگر چه په بے پروائی سره وی لیکن هرکله چه عادت اوګرځی نو سبب شی دَپاره دَ اهانت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او اِهانت دَ هغه سبب دَ کفر دے او کفر سبب دَ بربادئے دَ نیکو اعمالو دے۔

فائده :- په سورة محمد ۳۳ او ۲۸ کښ حبط دَ عمل ئے په فاء سببیه سره ذکر کړے دے او دلته ئے په اَنْ سره ذکر کړے دے چه دا صریح نه دے په سببیت کښ۔ وجه دا ده چه هلته ئے کوم ګناهونه دَ فا نه مخکښ ذکر کړے دی هغه اسباب بالذات (بغیر دَ واسطے) نه دی دَپاره دَ حبط او دلته چه کوم ګناهونه ذکر کړے دی هغه اسباب دی په واسطو سره لکه مخکښ ذکر شول (چه رفع صوت او جهر دے) اول قسم ګناه نه دے او دویم قسم ګناه دے لیکن کفر نه دے دا هله کفر ګرځی چه سبب شی دَپارهٔ توهین دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او توهین بیا سبب دے دَپاره دَ حبط دَ اعمالو او دَ دے فرق په بنا باندے هلته وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ئے نه دے ذکر کړے او دلته ئے ذکر کړو. ځکه چه مراد دَ عدم شعور نه دا دے چه عمل دَ کفر کوی او کلمه دَ کفر وائی قصدًا لیکن په دے نه پوهیږی چه دا سبب دَ حبط دَ عمل دے او دا عذر نه دے دَ دے نه دا نه معلومیږی چه عدم اراده دَ کفر هم کفر دے ځکه لزوم دَ کفر کفر نه دے بلکه التزام دَ کفر کفر دے۔

۳ دا بشارت دے هغه اهلِ ایمان ته چه دَ مخکښ ذکر کړے شوی ادب التزام کوی او دا څلور صفات او احوال دی دَ صحابه کرامو دَپاره. يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ په حدیث دَ بخاری کښ ذکر دی چه روستو دَ نزول دَ دے ایت نه عمر رضی الله عنه په دا سے ادب سره به خبرے کولے (په آواز سره به) مجلس دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کښ خبرے کولے چه کله به نبی کریم صلّی الله علیه وسلّم وا نه ورېدلے نو دَ دهٔ نه به ئے دوباره تپوس اوکړو چه تا څه اُویل او دغه شان روایت دَ ابوبکر رضی الله عنه په باره کښ هم راغلے دے۔

اِمْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ دا ماخوذ دے دَ امتحان الذهب والفضه نه (یعنی صفا کول دَ سرو زرو او سپینو زرو دَ خیرو نه) یا ماخوذ دے دَ امتحان الادیم (رخل دَ څرمنے دَپاره دَ دے چه فراخه شی) یعنی دَ دوی زړونه الله تعالیٰ پاک کړی (پاتے په بل مخ)

مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ④ وَ

روستو د ديوالونو نه ډير د دوی نه پوهيږی . او

لَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا

كه چرے دوی صبر كړے وے تر هغے پورے چه ته بهر راوځے وے دوی ته ضرور ښهٔ خبره

لَّهُمْ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑤ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ

ده دوی لره او الله تعالیٰ دے بخښنه كوونكے رحم كوونكے . اے ايمان والو كه

جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْۤا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا

راوړی تاسو ته گنهگار يو خبر نو تحقيق ئے اوكړئ (هسے نه) چه اورسوئے (تكليف) يو قوم ته

بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ⑥ وَاعْلَمُوْۤا

په ناخبرئ سره نو شئ به په خپلو كړو باندے پښيمانه . او پوهه شئ

دَهر قبيح فكر او عقيدے نه او فراخ كړى دى دَپاره دَ قبلولو دَ تقوىٰ . يا دَپاره دَ ښكاره كولو دَ تقوىٰ .

سك دا زجر دے هغه چا ته چه دَ مخكښ ذكر شوى ادب لحاظ نه كوى . اَلْحُجُرٰتِ جمع دَ حجر دے او هغه جمع دَ حجرت ده يا حجرات جمع دَ حجرت ده هغه زمكے ته ويلے كيږى چه ديوال ترينه چاپيره وى ليكن اكثر مستعمليږى دَپاره دَ كور چه په هغے كښ كوټے دَ اوسيدلو او صحن وى چه راگير وى په ديوالونو كښ او دلته مراد ديوالونه دَ كورونو دى . اَكْثَرُهُمْ يعنى دوى دَ دا سے قوم نه دى چه اكثر دَ دوى جاهلان دى يا اَكْثَرُهُمْ دَ دے وجے نه اوويل چه دَ بعضے كسانو اوازونه بے اختياره اوچت وو او شر بيني ويلے دى چه اكثر په معنىٰ دَ كل سره دے .

سهٔ دا بيان دَ ادب دے دَپاره دَ ناپوهو خلقو او دَ صبر نه مراد انتظار كول دى . لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ اشاره ده چه ادب دَ مشرانو (ادب شرعى) سبب دَ خير او بركت او سبب دَ مغفرت او رحمت دے .

سك پديكښ دريم ادب دے يعنى په تير شوى ادابو سره اتحاد جوړيږى ليكن بعضے خلق دا اتحاد خرابوى چه هغه فاسق دروغژن چغلخور وى نو هغه دَ بے تحقيقه خبرے منلو نه

أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ

يقيناً په تاسو كښې رسول د الله تعالىٰ شته دے كه چرے ستاسو تابع شي په ډيرو كارونو كښې

لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ

نو په تكليف كښې به پريوځئ او ليكن الله تعالىٰ محبوب كړے دے تاسو ته ايمان او ډولى كړے دے هغه

ځان بچ كول ضروري دي. فَاسِقٌ مراد دَ دے نه هغه څوك دے چه ارتكاب دَ گناهِ كبيره ئے كړے وي او صحيح توبه ئے نه وي كړے او مسلمان وي. دروغ ويل چغلي كول، دَ مؤمنانو په مينځ كښې فساد پيدا كول دا ټول پكښې داخل دي. مفسر خازن ويلي دي چه دا آيت عام دے نازل كړے شوے دے دَ پاره دَ بيان دَ تثبُّت او دَ اعتماد نه كولو په خبر دَ فاسق باندے او خطيب شربيني هم ويلي دي چه نزول دَ آيت په باره دَ وليد رضى الله عنه كښې دے. خو هغه ته فاسق ويل دا كمزورے قول دے په څو وجوهو سره اول دا چه الله تعالىٰ او دَ هغه رسول دا نه دي فرمائيلي چه دا آيت په باره دَ وليد رضى الله عنه كښې نازل شوے دے او دَ صحابه كرامو لوئے شان او عدالت چه په يقيني نصوصو سره ثابت دے نو هغه په دے قول دَ مفسرينو باندے پريښودل نه دي جائز. دويمه وجه دا ده چه په دغه روايت چه ابن كثير او نورو مفسرينو په سند سره نقل كړے دے ليكن سند ئے متصل نه دے او په البدايه كښې ويلي دي چه الله تعالىٰ دَ دے په صحت باندے پوهه دے صفحه ۲۹۴ جلد ۸ - ابن عربي په العواصم والقواصم او دَ هغې په تعليق كښې په دے باندے رد كړے دے. دريمه وجه دا ده چه وليد رضى الله عنه ته فاسق ويل بے دليله خبره ده ځكه چه هغه واقعه كه چرے ثابته شي نو دَ وليد رضى الله عنه اجتهادي خطا ئے باندے دلالت كوي او په اجتهادي خطا ئے سره گناه نه ثابتيږي نو څه رنگ هغه ته فاسق ويلے كيږي. فَتَبَيَّنُوٓا اشاره ده چه خبر دَ فاسق قبلولے شي روستو دَ تحقيق او تبيين نه معلومه شوه چه خبر دَ عادل خو هر وخت قبول دے. أَن تُصِيبُوا قَوْمًا دا نقصان ذكر كوي دَ قبلولو دَ خبر دَ فاسق بغير دَ تبيين نه يعني كه چرے دے فاسق دَ يو سړي يا دَ يو قوم په باره كښې ناكاره خبر در كړے وي مثلاً ويلي دي چه فلاني تا ته كنځل كړے دي ستا بد ئے ويلي دي يا په تا باندے بهتان لگولے دے يا ئے ويلي دي چه فلاني دَ اسلام نه انكار كړے دے يا زكوٰة وركولو نه وغيره او مخاطب په دے خبره باندے عمل اوكړي يعني دَ هغه كس يا قوم نه انتقام واخلي دَ هغه بے عزتي اوكړي دَ هغوي سره جنگ اوكړي نو دا لوئے جرم دے او سبب دَ پښيمانتيا دے. (ر پاتے په بل مخ)

فِي قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوقَ وَالْعِصْيَانَ ۚ

په زړونو ستاسو کښې او بد یې بنکاره کړی دے تاسو ته کفر او ګناهونه کول او نافرمانی کول

أُولَٰئِكَ هُمُ الرَّاشِدُونَ ۝ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَنِعْمَةً ۚ

دا سے کسان خاص دوی کامیاب دی د وجې د فضل د طرف د الله تعالیٰ نه او د وجې د نعمت

بِجَهَالَةٍ مراد د دے نه بے خبری ده د حقیقتِ حال نه یا اشاره ده چه په دے خبر د فاسق باندے بے تحقیقه عمل کول جهالت دے۔ نَادِمِينَ ندامت ویلے کیږی افسوس او خفګان کولو ته په یو کار کولو باندے روستو د کولو د هغې نه په داسے حال کښې چه دا افسوس کول بیا فائده نه ورکوی۔

سک په دے کښې اشاره ده طریقې د تحقیق د خبر د فاسق ته او دارنګ تحذیر دے فاسق ته د دروغ خبر ویلو نه یعنی خبر د فاسق به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیش کیږی په ژوند د هغه کښې او د هغه سنت ته به پیش کیږی روستو د وفات د هغه نه نو په دے طریقے سره به د هغه فاسق دروغ او رشتیا معلومیږی او دا حکم عام دے هره مسئله او فیصله که د یو عالم وی یا حاکم وی نو هغه به تلله کیږی په سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے۔ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ وصف یې ذکر کړو نوم (محمد) یې نه دے ذکر کړے اشاره ده چه د هغه ذات خو حاضر ناظر نه دے نه په ژوند د هغه کښې او نه روستو د مرګ د هغه نه لیکن صفت د رسالت (چه قرآن او سنت دے) هغه په تاسو کښې باقی دے۔ لَوْ يُطِيعُكُمْ الخ حاصل دا دے چه څوک دروغ خبر یا دروغ مسئلے او بدعات په خلقو کښې خوروی د هغه مطلب دا وی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (په حالت د ژوند کښې) زما تائید اوکړی یا سنت د رسول الله د زما تابع شی یعنی حدیث صحیح تحمل خواهش او د خپلې رائې تابع کړځوی لکه چه جامد مقلدین او مبتدعین دا کار کوی نو دا به سبب د ډیر مشقت او تکلیف اوګرځی ځکه چه په سنت د رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې حرج او تنګول نیشته او په خلافِ سنت کار و نو کښې او بدعاتو کښې خو ډیر حرج دے۔ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ کثیر یې د دے وجې نه اُویل چه په بعض خلاف سنت کارکښې اسانتیا وی لیکن هغه د شرعے د مصلحت سره موافق نه وی۔ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ د ماقبل نه وهم پیدا شو چه ایا صحابه کرامو دا اراده کړے ده چه دروغ اُوائې او پیغمبر په ځان پسے په هغې کښې تابع اوګرځوی نو دا وهم لرے کوی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ۝۸ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او الله تعالیٰ پوهه حکمتونو والادے. او که چرے دوه ډلے د مؤمنانو نه

چه د صحابه کرامو شان د دے نه اوچت دے اولفظ د لَوْ يُطِيعُكُمْ په دے باند دلیل دے
ځکه چه لَوْ د پاره د انتفاء او د منع راځی یعنی دا سے نه دی شوی. فرق د تحبیب او تزیین
په مینځ کښ دا دے چه تحبیب کښ معنیٰ د طلب ده په رضا سره بیا د کله چه طلب او
محبوبیت کله کله د قبیح خیزوی د وجے د مجبوریٔ نه نو تزیین یٔے ذکر کړو تزیین دا دے
چه ایمان دوی ته قبیح نه ښکاری بلکه د خایٔست د ایمان د وجے ته هغے سره محبت کوی.
بل فرق دا دے چه محبت امر باطنی دے نو مراد د ایمان نه عقیده صحیحه د توحید ده
او تزیین امر ظاهری دے نو مراد د ضمیر د زَيَّنَهٗ نه اعمال د ایمان دی - وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ
دا اشاره ده چه محبت د دوی د ایمان سره دومره زیات دے چه د هغے مقابل ورته بد ښکاره
کیدی الکفر مقابل د ایمان دے. او الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ دا مقابل دے د زَيَّنَهٗ سره ځکه
چه په هغے کښ اعمالو صالحه ته اشاره ده. او د دے دریو واړو فرق دا دے چه کفر
خو انکار کول دی د طاعت د الله تعالیٰ او د رسول صلّی الله علیه وسلّم ته او الفسوق ګناه
کبیره دے او العصیان ګناهو ته صغیره دی دویم فرق دا دے چه کفر انکار دے په
زړه کښ او فسوق د طاعت نه وتل دی اګر چه انکار نه کوی په زړه کښ خو په ظاهر
کښ بغاوت اوکړی د حکم نه او عصیان مخالفت کول دی د امر نه یعنی انکار هم نه کوی او
وایٔ چه زه تابعداری کوؤم لیکن سره د دے نه د بعض او امرو نه مخالفت کوی او د
حدیث د بخاری او مسلم چه د انس رضی الله عنه نه روایت دے مضمون دا دے
چه درے خصلتونه په چا کښ جمع شی نو د ایمان خوږوالے یٔے نصیب شی دریم
خصلت پکښ دا دے چه کفر ته واپس کیدل (یا قبلول) دا سے مکروه او بد ګڼړی لکه
چه اُور ته غورځیدل بد ګڼړی. نو دا صفت په صحابه کرامو کښ موجود دے.
فائده :- په لفظ د حَبَّبَ او كَرَّهَ کښ چه ضمیر فاعل یٔے الله تعالیٰ ته راجع دے اشاره
ده چه قول کار د ته د خیر او شر الله تعالیٰ پیدا کړیدی او دا رد دے په قدریه معتزله
باندے. اُولٰٓئِكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ مبتداء او خبر یٔے معرفه راوړل او په مینځ کښ
ضمیر فصل دلالت کوی په حصر او په کمال باندے او رشد نه مراد هدایت موندل دی
سره د کامیابیٔ او د ښو خوالی او د عقلمند یٔے ته -
۸ په دے کښ اشاره ده چه دغه تیر شوی اوصاف د الله تعالیٰ د رپاتے په بل مخ)

اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى

جنګ اوکړي نو روغه اوکړئ د دوی په مینځ کښې نو که چرے زیاتے اوکړي یوه ډله په

الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِيْ تَبْغِيْ حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى

بله باندے نو جنګ اوکړئ د هغې ډلے سره چه زیاتے ئے کړے دے تر دے پورے چه را اوګرځي

اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ

فیصلے د الله تعالیٰ ته نو که چرے را وګرځي نو روغه اوکړئ د دوی په مینځ کښې په انصاف سره

وَاَقْسِطُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ اِنَّمَا

او انصاف کوئ یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی د انصاف کوونکو سره ۔ یقیناً

طرف ته احسان دے هغه مجبور نه دے په هغه باندے حق واجبه نیشته دے . فَضْلًا کښې اشاره ده چه د مؤمنانو په مینځ کښې په دغه صفتونو کښې تفاضل شته دے او نِعْمَةً کښې اشاره ده چه دغه محبت او کراهت باطنی نعمتونه دی چه د هغې شکر کول واجب دی ۔

۹ په دے کښې شلورم ادب ذکر کوی یعنی کوم وخت چه د فاسق خبر او مثلے شی بغیر د تحقیق نه او د هغې په سبب سره د مؤمنانو په مینځ کښې اختلاف او دشمنی او قتل وقتال پیدا شی نو په نورو مؤمنانو باندے فرض دی چه د هغوی په مینځ کښې د مصالحت کوشش اوکړی او طرف داری د نه کوی د پاره د دے چه اتحاد او اتفاق د مؤمنانو ته نقصان اونه رسیږی . طَآئِفَتَانِ قرطبی د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے دی چه طائفه یو نفر او زیاتو ته هم ویلے کیږی د دے وجے نه د جمع ضمیر ورته هم راجع کیږی . فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا یعنی ؑپه نصیحت کولو او فیصلے د قرآن او سنت ته په رابللو سره ؑ او دا سے په سورة نساء ۳۵ او ۱۲۸ کښې هم ذکر کړے شوے دی ۔ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا مراد د بغی نه دا دے چه یو طائفه فیصلے د قرآن او سنت ته غاړه کیښږدی بلکه د فساد کولو اراده کوی حَتّٰى تَفِيْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ فئ په اصل کښې سوری ته ویلے کیږی یعنی قتال کول ګوی ده او حکم د قرآن او سنت کښې سورے او راحت دے ۔ اَمْرِ اللّٰهِ مراد د دے نه کتاب الله او سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم دے بِالْعَدْلِ دا تاکید ئے د دے وجے نه ذکر کړے دے چه قتال د دوی سبب د حسد او د کینے او نه ګرځی چه د هغې د وجے نه عدل نه شی کیدے ۔ قرطبی ویلے دی چه دلته په عدل کښې دا خبره داخل ده چه د دے باغیانو د تاویل په وجے سره

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا

مؤمنان روتړه روتړه دی نو روغه کوئ په مینځ د رونړو ستاسو کښې او یره کوئ

اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ⑩ ع يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ

ع ۱۰ ۱۳

د الله تعالی نه د دے د پاره چه رحم اوکړشی په تاسو باندے۔ اے ایمان والو مسخرے دِ نه کوی

کوم مالونه او نفسونه تلف (هلاک) کړے وی نو د هغے مطالبه ترینه نشی کیدے۔ وَأَقْسِطُوا
تفسیر سراج المنیر کښې لیکلی دی چه قَسط په زوَر د قاف سره ظلم ته ویلے کیږی او په زیر
د قاف سره عدل ته ویلے شی نو معنیٰ دا چه زائل کړئ ظلم په کولو د عدل سره۔ تنبیه: روستو
د حکم د عدل نه امر په اقساط سره د دے وجے نه دے چه مراد د دے نه حصه او
حق ورکول دی په داسے حالاتو کښې اکثر د انسانانو حقوقو ته نقصان اورسیږی نو د دے
وجے نه د اقسطوا حکم مستقل ذکر شو لکه سورة ممتحنه ۸ او مائده ۴۲ کښې ذکر دی۔
فوائد:- په دے ایت کښې یو فائده دا ده چه مؤمن په اقتتال سره کافر نه ګرځی ځکه چه سره
د صفت د ایمان نه ئے اقتتال ذکر کړے دے۔ دویمه فائده دا ده چه هغه مسلمانان چه د
یو عادل امیر المؤمنین د بیعت یا د یو حکم شرعی نه بغاوت اوکړی (یعنی ډله بازی او فساد
جوړوی تفرق په مینځ د مسلمانانو کښې جوړوی) نو د هغوی سره قتال کول هم فرض
کفائی دے د پاره د دے چه د نورو مسلمانانو جماعت او اتحاد خراب نشی۔ دریمه فائده
دا ده چه څوک یو ګناه په تاویل سره جائز کوی لیکن هغه سبب د فساد وی نو هغه تاویل
سبب د منع د قتال نشی کیدے ځکه چه باغی ضرور ځان د پاره تاویلات کوی لیکن
هغے ته اعتبار نشی ورکیدے۔ د دے وجے نه قرطبی د لسان الامة نه نقل کړے دی
چه په جنګونو د صحابه کرامو کښې (په کورنئ کښې) یو حکمت د الله تعالی دا دے چه احکام
د قتال د اهل تاویل معلوم نشی۔ او بیا مفسر قرطبی د دے ایت په تفسیر کښې د صحابه
کرامو د جنګونو په باره کښې ویلے دی چه دا ټول اجتهادی اختلاف وو او مونږ له
جائز نه دی چه په دے کښې یو طرف ته یا یو صحابی ته د یقینی خطا ئے نسبت اوکړو
هغوی ټول زمونږ امامان دی مونږ په د هغوی د جنګونو د ذکر کولو نه ځیلے ژبے محفوظ
ساتو لکه چه زمونږ تورے (سیوف) د هغوی د وینو نه الله تعالی محفوظ ساتلے دی،
او دا به وایو چه تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ۔

۱۰ دا علت دے د پاره د امر د اصلاح کولو او په لفظ د الْمُؤْمِنُونَ کښې (ر یا تے په بل مخ)

قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَ

هيڅ نارينه په نورو نارينو پورې کيږدې شي چه هغوی به وی غوره دَ دوی نه او

لَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

نه زنانه په نورو زنانو پورې کيږدې شي چه هغوی به غوره وی دَ دوی نه

وَلَا تَلْمِزُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ بِئْسَ

او طعنونه مهٔ کوئ په خپلوځانونو باندې او مهٔ يادوئ يو بل په ناکاره نومونو سره ، بد

الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ

نوم فسق والا روستو دَ ايمان نه او چاچه توبه او نکړه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑪ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

نو هغه کسان دوی ظالمان دی۔ اے ايمان والو

اشاره ده چه اختلاف دَ نسب ته اعتبار نيشته بلکه ايمان صِرف سبب دَ اخوّت او ورورولې دَ پاره دے او دَ ابوعثمان حيری نه خطيب شربينی نقل کړے دی چه اخوّت دَ دين کلک دے دَ اخوّت دَ نسب نه ځکه چه اخوّت دَ نسب قطع کيږی په مخالفت دينی سره او اخوت دينی نه قطع کيږی په مخالفت دَ نسب سره۔ اَخَوَيْكُمْ تثنيه ئې دَ دے وجے نه ذکر کړه چه ادنیٰ عدد دَ هغه چاچه مخالفت ئې په مينځ کښ پيدا کيږی هغه دوه کسان دی نو حکم زيانو ته هم شامل دے۔ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ هرکله چه صلح کول دَ مسلمانانو رحم کول دی په هغوی باندے نو په تقاضا دَ اَلرَّاحِمُوْنَ يَرْحَمُهُمْ مَنْ فِى السَّمَآءِ سره دلته هم په جزاء کښ وعده دَ رحم ذکر کړے شوله۔

۱۱ دا پنځم ادب دے هرکله چه دَ دوه طائفو جګړه تيره شی نو په هغې کښ دَ يو بل نقصانونه او عيبونه معلوم شی ليکن روستو دَ مصلحت نه دَ هغه نقصانونو په وجه سره دَ هغې سپک والے جائز نه دے هسے نه چه بيا فساد او اختلاف پيدا شی نو په دے ادب کښ دَ درے څيزونو نه منع کړے شوے ده چه هغه سبب دَ توهين دَ مسلمان دے او بيا سبب دَ فساد دے۔ اول څيز مسخرے کول يعنی دَ بعض نقصان په وجے سره يا به غير دَ نقصان نه چاته سپک کتل او په هغه پورے پزمونے کول اګرچه عيب ئې نيکاره نه

اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ

ځان ښځ کوئ	دَ ډيرو	ګمانونو نه	يقينًا	بعض	ګمانونه

ذکرکوی۔ تفسیر سراج المنیرکښ ذکردی چه سخریه دیته ویلے کیږی چه یو انسان بل انسان ته دَ عزت په نظر سره نه ګوری بلکه دَ درجے نه ئے ښکته ګڼری۔ او مسخرے کول په بل پورے مستلزم ده تکبرکولو لره او دا خوئ دَ مشرکانو کافرانو دے چه حق پرستو پورے مسخرے کوی لکه سورة هود ۳۸ توبه ۷۹ انعام ۱۰ بقره ۲۱۲ صافات ۱۲ کښ ذکرشوی دی۔

قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ قوم ته قوم دَ دے وجے نه ویلے کیږی چه ځوك یوتن دَ قوم له سختئ ته دعوت ورکړی نو دوی ورسره اودریږی او دا صفات اکثر دَ نارینو وی دَ دے وجے نه دَ قوم اطلاق حقیقةً په نارینو باندے کیږی او زنانه پکښ کله کله مجازًا داخلیږی۔ وَلَا نِسَآءٌ دلته دَ زنانه ذکر ئے جُدا اوکړو یو دَ دے وجے نه چه په زنانوکښ مسخرے کول په یو بل پسے ډیرے وی بل دَ دے وجے نه چه اکثر نارینه په زنانه پورے یا زنانه په نارینه پورے مسخرے نه کوی بلکه هر یو جنس په خپل هم جنس پورے مسخرے کوی۔

عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ دَ دے دوه مقصدونه دی یو دا چه په ظاهرکښ هغه سړے (چه مسخرے ورپورے کیږی) سپک ښکاری لیکن حقیقت کښ هغه اللّٰه تعالیٰ ته مقرب او نزدے وی لکه چه حدیث صحیح کښ دی رُبَّ اَشْعَثَ اَغْبَرَ لَوْ اَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ (ډیر کرته یو ببر سرے دوړن وی خو چه قسم اوکړی دَ اللّٰه تعالیٰ په باره کښ نو اللّٰه تعالیٰ ورله هغه قسم پوره کوی)

تنبیه دَ دے دا مراد نه دے چه یو سړے بے دینه دے شرک او بدعات کوی بیلمازه وی لکه بعض ملنګان دَ دے زمانے او هغه ډیر دَ احترام او دَ عزت حقدار وی پدے ګمان سره چه دے به په باطن کښ دَ اللّٰه تعالیٰ ولی او بزرګ وی دا غلطه ده ځکه چه ولی اللّٰه مخالفت دَ شرعے نه کوی۔ دویم مقصد دا دے کیدیشی چه په راتلونکی وخت کښ چه دا مسخره کوونکے انسان ذلیل مسکین عیبژن شی او بل عزت مند شی نو معامله به په عکس سره شی۔ قرطبی او نورو مفسرینو دَ عبد اللّٰه بن مسعود رضی اللّٰه عنه روایت ذکرکړے دے" که زه په یو سپی پورے خندا نے اوکړم نو ویریږم چه زه به سپے اوګرځم" او دَ قشیری نه نقل دے "چه چا بل مسلمان سپك ګڼړلے دے نو اللّٰه تعالیٰ هغه مسلمان په ده باندے مسلّط کرځولے دے"۔ او دویم خیز چه دَ هغے نه منع کړے شوے ده او دَ کورنئ فساد پیدا کوی په دے قول کښ دے وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ رپاتے په بل مخ)

إِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا ط

گناه دے او عيبونه د يو بل مه لټوئ او غيبت دِ نه کوي بعض ستاسو د بعضو

لمز مخامخ عيب او ېدو ويلو ته ويلے کيږي او په اصل کښ اشارے کول په سترګو او په سر او په شونډو سره سره د پېغو خبرو کولو ته او همز صرف پټې شا عيب ويلو ته ويلے کيږي نو لمز ډير ناکاره دے په نسبت د همز سره او د همز ذکر روستو آيت کښ په ضمن د غيبت کښ ذکر کوي . او اَنْفُسَكُمْ په معنیٰ د هم جنس دے لکه سوره بقره ۵۴ ۸۴ سورة العمران ۱۶۴ کښ تير شويدي . او هر کله چه د بل چا عيب وئيل سبب د عيب ويلو د خپل ځان دي د دے وجے نه انفسکم ئے ويلے دے او د بل چا عيبونه وئيل دليل دے د تکبر کولو او ځان معصوم ګنړلو او چه مخامخ عيب وائي نو په دې کښ توهين د مسلمان هم دے. قرطبي نقل کړيدي چه د انسان د نيک بختۍ نښه دا ده چه په خپلو عيبونو سره مشغول شي د نورو خلقو د عيبونو نه او د بکر بن عبد الله مزني نه ئے نقل کړے دي "که چرے ته غواړے چه د عيبونو مجموعه اُوينے نو عيّاب (چه عيبونه وائي) ته اوګوره يعنې په ده کښ به پخپله دغه عيبونه موجود وي". او د ريم خبره چه سبب د فساد او تحقير د مسلمان دے او د هغې نه منع کړے شوے ده په دے قول کښ. وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ او مه يادوئ يو بل په ناکاره نومونو سره. دا هم دليل دے په تکبر کولو د تنابز کوونکي او په تحقير د هغه بل مسلمان باندے . تَنَابُز لقب ذکر کولو ته ويلے کيږي او اکثر په ناکاره لقب کښ استعماليږي او لقب د خپل نوم نه علاوه بل وصفي نوم دے چه په هغې کښ د انسان اوچت والے يا تذليل مقصود وي. نو مراد د دے جملے دا دے چه يو مسلمان په داسے ناکاره لقب سره مه رابلئ چه په هغې لفظ سره هغه خفه کيږي او د بلنه کوونکي مقصد هم د هغه سپک والے وي. لکه چه اُويلے شي اے فاسقه اے منافقه ، اے کافره او اے يهودي ، اے نصراني او اے خرهٔ اے خنزيره يا د چا نوم کښ ترخيم اوکړي د هغه د سپک والي د پاره يا اووائي اے کونړه يا اے ړونده په طريقه د سپک والي. او د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دے چه هر کله يو سړي بد کار ونه کړے وي او د هغې نه ښکاره توبه اوباسي نو بيا په هغه ګناهونو سره د ده ياد ول دا هم تنابز بالالقاب دے هاں که يو سړے په يو لقب سره مشهور وي او په هغې نه خفه کيږي او د آواز کوونکي مقصد د هغه سپک والے نه وي نو بيا جائز دے لکه چه امام بخاري رحمة الله عليه باب ذکر کړے دے په کتاب الادب کښ چه چا ته اوګډ يا لنډ او ويلے شي او د هغه عيب کول مقصد نه وي نو

أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا

آيا خوخوي يو تن ستاسو چه اوخوري غوښه د رور خپل چه مړ وي

فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ ﴿١٢﴾

نو تاسو خو بد گنړئ او ويره کوئ د الله تعالیٰ نه يقيناً الله تعالیٰ توبه قبلوونکے رحم کوونکے دے.

نو دا جائز دے. بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ الاسم نه مراد لقب دے الفسوق بدل دے د الاسم نه په تقدير د دو سره يعنى هغه نوم چه په هغے کښې صفت د فاسق کيدلو دے يا د اسم معنیٰ مصدري ده التسمية (نوم ذکر کول) ته او مراد ترينه سخريه او لمز او تنابز دے وارډه دي. الْفُسُوقُ يو مقصد دا دے چه هغه نوم چه دلالت کوي په فسق باندے يعنى فاسق منافق يهودي نصراني ويل. بَعْدَ الْإِيمَانِ يعنى روستو د ايمان راوړلو نه دا نوموته مؤمن ته ويل ډير بد کار دے. دويم مقصد د الفسوق دا دے چه دا نوموته مؤمن ته ذکر کول سبب د فسق او د گناهګاري دی. او په حديث صحيح کښې نقل دي چا چه يو رور ته اُويل اے کافره نو په دے سره يو د دے دوارو نه اخته شو که هغه سړي کښې کفر وي نو درست ده او که نه وي نو دا خبره په ويونکي باندے واپس راګرځي. وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ مراد د توبے نه شرعي توبه ده په هغې کښې يو شرط دا دے چه د چا بے عزتي ئې کړے ده د هغه نه به معافي هم غواړي او دا جمله دليل دے چه د يو مسلمان بے عزتي او سپک والے ظلم او ګناهِ کبيره دے.

۱۲ دا شپږم ادب ذکر کوي او په دے کښې نور درے قسمه څيزونو نه منع کوي چه هغه سبب د فساد او د اختلاف پيدا کيدلو دي او د يو مسلمان توهين او سپک والے دے او بل په تکبر باندے دلالت کوي او دا ټول ګنده خصلتونه دي چه د مسلمان د شان سره نه ښائيږي. مخکښې ايت کښې هغه څيزونه ذکر وو چه مخامخ د مسلمان د سپک والي اسباب وو او په دے کښې دا سے څيزونه ذکر کوي چه پټې شا د هغه د سپک والي اسباب دي او دا درے هم په خاصته ترتيب سره دي اول بدګماني کول دي چه کيدے شي چه پدے انسان کښې په نقصانونه وي نو بيا د هغه نقصانانو تجسس او لټول شروع کړي نو بيا د هغے پټې شا ذکر کوي چه هغه غيبت کول دي. اِجْتَنِبُوا په دے کښې اشاره ده چه دا روستو خصلت پليت او ګنده دے د هغے نه دا سے اجتناب پکار دے لکه اجتناب کول د نجاست نه كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ يو هغه شے چه انسان کښې داسے حال (پاتے په بل مخ)

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَ

اے خلقو ! یقیناً مونږ پیدا کړی یئ تاسو دَ یو نارینه او دَ یو زنانه نه او

پیدا شی چه دَ یو خیز په باره کښ نه دَ خیر حکم کولے شی او نه دَ شر او دارنګ هیڅ حکم په هغه بانـدے کولے نشی دواړه طرفو ته ورته یو شان وی نو دے حالت ته شک ویلے کیږی په هغے بانـدے په هیڅ صورت کښ عمل کول جائز نه دی بلکه حدیث صحیح کښ وارد دی چه دَ شبهاتو او مشتبهاتو نه ځان بچ کړئ او کله په انسان کښ داسے حال پیدا شی چه یو طرف ته دَ حکم کولو ترجیح ورکوی لیکن بل طرف ته ئے هم مرجوح خیال وی نو راجح طرف ته ظنّ (ګمان) ویلے کیږی او مرجوح طرف ته وهم ویلے کیږی. وهم خو دَ وسوسے په شان وی هغے ته خو هیڅ اعتبار نیشته او دَ ظن په باره کښ روستو تفصیل راځی او کله چه داسے حال وی چه یو طرف بانـدے داسے حکم کولے شی چه دَ بل طرف ورته هیڅ وهم او خیال هم نه راځی نو هغے ته یقین ویلے کیږی هغه خو درجه دَ ایمان ده په شرعیاتو کښ. بیا پوهه شه چه ظنّ په قرآن کښ په مختلفو صیغو سره نهه شپیتهٔ کرته ذکر کړے شوے دے او دَ هغے مختلف معنے او حکمونه دی. اوّله معنیٰ ظن په معنیٰ دَ یقین سره دے لکه په سورة بقره ۴۶ او سورة الحاقه ۲۰ چه دَ ظن نه روستو اَنّ په شد سره ذکر وی نو په معنیٰ دَ یقین سره وی او دا قاعده اکثری ده. دوېمه معنیٰ ظن په معنیٰ دَ ګمان کولو دے چه معنیٰ مشهوره ده لکه په سورة بقره ۲۳۰ جن ۵ کښ. دریمه معنیٰ خیال غیر اختیاری لکه په لکه په سورة انبیاء ۸۷ او سورة یوسف ۴۲ کښ او دا بنا دے په یو تفسیر بانـدے په دے دواړه ایاتونو کښ. او څلورمه معنیٰ ظن په معنیٰ دَ دروغ ویلو سره دے دا هر کله چه په مقابله دَ حق کښ وی لکه چه قرطبی ویلے دی په تفسیر دَ سورة بقره ۴۸ کښ او دَ ابن الانباری نه ئے نقل کړیدی "چه عرب لفظ دَ ظن په معنیٰ دَ یقین او دَ شک او دَ کذب کښ استعمالوی". پنځمه معنیٰ ظن په معنیٰ دَ اجتهاد کولو دے لکه سورة ص ۲۴ کښ. او شپږمه معنیٰ ظن په معنیٰ دَ تهمت لګولو دے لکه په دے ایت کښ قرطبی په دے کښ معنیٰ دَ تهمت لیکلے ده. او دارنګ ظن قرآن کریم دوه قسمه ذکر کړے یو ظن محمود لکه سورة نور ۱۲ کښ سورة ص ۲۴ او نور ایاتونو کښ هم دی او دوېم ظن مذموم دے لکه سورة انشقاق ۱۴ (ظن دَ بعث بعد الموت) او سورة فصلت ۲۲ (ظن دَ علم دَ الله تعالیٰ) او سورة جن ۷ (ظن دَ بعث دَ نبی ته) او سورة فتح ۱۲ (ظن سوء او انکار دَ غلبے دَ رسول او صحابه ته) او سورة احزاب ۱۰ (ظن دَ اهل نفاق) او سورة

جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ

او جوړ کړی یئ موږ تاسو خاندانونه او قبیلې دَ دے دَپاره چه یو بل او پیژنئ یقینًا

جاثیه ۳۲ (ظن انکار دَ قیامت) او سورة اعراف ۶۶ (پیغمبر ته کاذب ویل) او سورة حج ۱۵ (ظن نصرت نه کول دَ الله تعالیٰ دَ رسول سره) او سورة بقره ۷۸ (ظن په مقابل دَ حق کښې) او سورة آل عمران ۱۵۴ (ظن دَ جاهلیت) او سورة نساء ۱۵۷ (ظن دَ قتل دَ عیسیٰ علیه السلام) او سورة ص ۲۷ (ظن دَ باطل په خلق دَ اسمانونو او زمکے باندے) او په سورة انعام ۱۱۶ (اتباع دَ ظن په شرکیاتو کښې)۔ هرکله چه ظن مذموم دَ منافقانو او دَ کافرانو مشرکانو کار دے او هغوی ډیر دی او دا رنګ بغیر دَ دلیل نه په چا باندے تهمت لګول دا هم ډیر موجود دی نو دَ دے وجے نه کَثِیْرًا یئ او فرمائیل او دَ کافرانو منافقانو دَ تشبیه نه یئ منع او کړله۔

اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ سوال:۔ مخکښې یئ کَثِیْرًا لفظ سره ذکر کړو او امر دَ اجتناب یئ ذکر کړو هغه دلیل وو چه ډیر ګمانونه ګناه دے او په دے جمله کښې یئ بَعْضَ لفظ ذکر کړو چه دلالت کوی په کموالی باندے؟

جواب په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه بَعْضَ مطلق ټکړے ته ویلے کیږی که لګه وی او که ډیره وی هاں په دے لفظ کښې اشاره ده چه بعض ظن محمود دے لکه چه مخکښې ذکر کړے شو۔ دویمه وجه دا ده چه اکثر ګمانونه بے اختیاره په زړه کښې پیدا کیږی بیا روستو څوک دَ هغے مطابق عقیده او عمل اوکړی او څوک یئ پریږدی نو په اِجْتَنِبُوْا کښې احتیاط کولو ته اشاره وه چه احتیاط کوئے چه بے اختیاره ګمانونه هم ستاسو زړونو کښې رانشی او هرکله چه عقیده او عمل په هغے باندے بعضے خلق کوی او بعضے نه کوی او بعضے باندے عمل کول خیر وی او بعضے باندے عمل کول ګناه او شر وی نو روستو جمله کښې بَعْضَ لفظ ذکر کړو۔ او نیشاپوری په تفسیر کښې ویلے دی چه دَ ظَنّ څلور قسمونه دی۔ ۱ واجب لکه ښۀ ګمان کول په الله تعالیٰ باندے او په مؤمنانو باندے ۲ حرام لکه بد ګمان کول په الله تعالیٰ باندے او په نیکانو مؤمنانو باندے چه ښکاره علامت دَ بدئ پکښې نه وی او په دے آیت کښې هم دا قسم مراد دے ۳ مستحب لکه مؤمن فاسق باندے ښۀ ګمان کول ۴ مباح لکه ظن کول په مسائلِ اجتهادیه کښې۔ او تفسیر روح المعانی کښې ذکر دی چه ظن دوه قسمه دے ۱ اختیاری هغه منع دے ۲ غیر اختیاری نو مراد دَ منع نه عمل کول په مقتضا دَ ګمان باندے دی یا کوشش کول دَ زائل کولو چه ظن غیر اختیاری دے روایت په بل مخ)

وَلَا تَجَسَّسُوْا هرکله چه دَ بدګمان او دَ تهمت لګولو نه ردستو دا انسان کوشش کوی چه په دغه بل انسان کښ عیبونه اولټوی نو دَ هغے نه منع کوی او په حدیث صحیح کښ راغلی دی" ولا تجسّسوا ولا تحسّسوا". دا دَ اخفش نه نقل دے چه په دے دوا رو کښ زیات فرق نیشته او نورو اهل لغت پکښ فرق په څو وجوهو سره کړے دے. اوله وجه چه تجسُّس عیبونو لټولو ته ویلے کیږی او تحسُّس په حواسو سره معلومولو ته ویلے کیږی. دویمه وجه تجسُّس دَ بل چا دَ پاره جاسوسی کول دی او تحسُّس دَ خپل ځان دَ پاره دَ چا عیبونه معلومول دریمه وجه تجسُّس همیشه په شر کښ استعمالیږی او تحسُّس کله په خیر کښ او کله په شر کښ استعمالیږی. په خیر کښ استعمال لکه سورة یوسف ۸۷ کښ او په شر کښ استعمال لکه په دے مذکوره حدیث کښ دے او امام اوزاعی ویلے دی چه تجسُّس لټول دَ یو څیز ته ویلے کیږی او تحسُّس دَ چا غوږ ساتلو ته کول دی چه هغوی وریاندے خفه کیږی او دَ دے جملے په تفسیر کښ قرطبی ډیر واقعات لیکلی دی کتل ئے فائده مند دی.

وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا هرکله چه بعض انسان دَ چا عیب معلوم کړی نو بیا دغه عیب دَ هغه پشی شا ذکر کوی دَ هغه دَ بے عزتۍ کولو دَ پاره نو په دے جمله کښ دَ هغے نه منع کوی. دَ حدیث صحیح مضمون دے چه "غیبت دا دے چه په یو سړی کښ څه نقصان موجود وی او بل انسان ئے دَ هغه په غائب والی کښ ذکر کوی او هغه سړے پرے خفه کیږی او که عیب پکښ نه وی او ذکر کوی په عیب سره نو دا خو بهتان دے".

هغه هم ګناه کبیره دے. دَ حسن بصری نه نقل دے چه دَ غیبت درے طریقے دی او په کتاب الله کښ دَ هغے نه منع ذکر ده اول غیبت چه دَ یو رود په باره کښ ئے هغه نقصان ذکر کوے چه په هغه کښ موجود وی. دویمه طریقه دا ده چه دَ یو عیب په باره کښ درته خبر درا ورسیږی او هغه ذکر کوے او دیته "افک" هم وائی لکه ۳ بهتان دے چه ذکر کوے هغه نقصان چه په هغه کښ نه وی لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ ولا تقف ما لیس لك به علم (اسراء) او دا صیغه دَ نهی ده. او نور تاکیدات چه ورپسے ذکر کیږی او دا رنګ احادیث صحیحه چه دَ غیبت په منع کښ وارد دی دا ټول دلالت کوی چه غیبت کول ګناه کبیره دے.

فائده:- دَ غیبت په معنیٰ کښ دا ذکر شوه چه "هغه سړے پرے خفه کیږی" نو معلوم شوه که یو سړے خپل یو عیب عیب نه ګڼړی او دَ هغے په ذکر کولو نه خفه کیږی نو هغه ذکر کول او په هغے باندے دَ حدود شرعیه دَ لاندے رد کول غیبت نه دے او دا مراد دے دَ قول دَ حسن بصری چه دَ بدعتی غیبت کول جائز دی. او دا رنګ هغه فاسق چه خپل فسق ښکاره کوی. او دا رنګ مدعی لره جائز دی چه دَ مدعیٰ علیه

هغه نقصان (دَ قاضي په مخکښې) ذکر کړي چه دَ کوم په باره کښې دعویٰ کوي ځکه چه مقصد دَ مدعي (صادق) دَ هغه سړي خفه کول نه دي بلکه خپل حق ثابتول يې مقصد اصلي دے اودا رنګ په علم دَ اسماء رجال کښې دَ يو راوي عيبونه ذکر کول دا غيبت نه دے ځکه چه په هغې کښې مقصد دَ هغه سړي خفه کول نه دي مراد بلکه دَ دين حفاظت دے اودا رنګ دَ ظالم بادشاه دَ ظلم ذکر کول په دے مقصد چه دَ هغه دَ ظلم نه خلق بچ شي دا هم غيبت نه دے په دے ټولو کښې قصد کول دَ خير زيات دي دَ هغه سړي دَ خفه کولو نه.

يَعْضُكُمْ بَعْضًا په دے لفظ کښې اشاره ده چه غيبت په اکثرو مجلسونو کښې موجود وي اودا رنګ هغه يو سړے چه غيبت کوي نو هغه بل چه خبر شي نو هغه هم دَ ده غيبت کوي دَ دے وجے نه دا لفظ يې ذکر کړو - اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا دا منع ده دَ غيبت کولو نه په طريقه دَ مثال او دَ تشبيه سره يعني عفت دَ انسان يې مشابه کړے دے دَ غوښې دَ بدن دَ هغه سره . ځکه چه کله دَ يو انسان عزت پريکيږي نو دَ هغه زړه ته دا سے درد رسيږي هغه ته دَ هغه دَ تن نه په غوښه پريکولو سره بيا حالت دَ غائب کيدلو يې مشابه کړيدے دَ حالت دَ مرګ سره لکه چه مړے دَ انسانانو دَ خبرو نه خبر نه دے اونه اوري نو دا رنګ غائب انسان هم نه څه اوري او نه خبر دے ، او په لفظ دَ مَيْتًا راوړلو کښې دفع دَ يو اعتراض ده که او وئيلے شي چه انسان ته خو په بے عزتۍ سره هله درد رسيږي چه دَ هغه مخامخ بے عزتي اوکړے شي ليکن چه پټ شا بے عزتي کول وي او هغه خبر نه وي نو دَ هغه زړه ته خو درد نه رسيږي ؟ نو جواب يې اوکړو لکه چه دَ مړي دَ بدن نه غوښه پريکيږي او هغه ته خو درد نه رسيږي ليکن سره دَ دے نه دا دَ هغه بے عزتي ګڼړلے کيږي - او په دَ دے لفظ کښې بله فائده دا ده چه دَ مُردارے خوراک صرف په حالت دَ مجبورۍ کښې حلال دے او چه دَ هغې نه ادنیٰ څيز ملاويږي نو دَ مُردارے نه ځان - بچ کول ضروري دي لکه چه مُردار بيزه اوغوا دي او مړ انسان وي نو دَ بيزے يا دَ غوا نه به خوراک کوي ليکن دَ انسان دَ بدن نه به خوراک نه کوي دا رنګ که چرے دَ يو ضرورت او حاجت دفع کولو بله طريقه موجوده وي نو غيبت به نه کوي - فَكَرِهْتُمُوْهُ په دے ضمير کښې څلور احتمالونه دي اول دا چه دا ضمير خوراک (اكل) ته راجع دے او دويم دا چه غوښے (لحم) ته راجع دے دريم دا چه مړي (ميت) ته راجع دے يعني مړے چه وجود يې متغير او بد بوي په شي نو ستاسو ترينه ضرور کرکه کيږي نو په دے کښې ډيره مبالغه ده - څلورم دا چه غيبت کولو ته راجع دے (کوم چه دَ لايغتب په ضمن کښې دے) يعني که ستا څوک غيبت اوکړي نو بد يې ګڼړے نو دَ دے وجے نه دَ بل چا غيبت هم بد اوګڼړه - او ابن کثير په باره دَ کباحت دَ رباٰ کے په بل مخ)

أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقٰىكُمْ ۚ إِنَّ اللّٰهَ عَلِيمٌ

ډیر عزت مند ستاسو نه دَ الله تعالیٰ په نیز ډیر تقویٰ دار دے یقیناً الله تعالیٰ علم والا دے

خَبِيرٌ ﴿١٣﴾ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا ۖ قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا

خبر لرونکے دے۔ وائی بانډچیان ایمان راوړے دے مونږ ته اوایه ایمان نه دے راوړے تاسو

غیبت کولو کښې ډیر احادیث او واقعات ذکر کړے دی هغه اوګورئ۔ او دَ غیبت کولو نه
توبه کول دا دی چه اَئنده دَپاره غیبت کول پریګدی او که امکان لری نو دَ هغه سړی
نه دِ ے معافی اوغواړی او که معافی نشی غوختلے نو په کوم مجلسونو کښې چه دَ هغه بد
ئے ویلے دی نو په هغے کښې دِ ے دَ هغه صفت اوکړی او چه څوک دَ هغه غیبت کوی نو
هغه دِ منع کړی۔ إِنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ دَ تیر شوی ایت په اول کښې صیغه دَ نهی وه (لا یسخر)
نو دَ هغے په ارتکاب سره انسان ظالم کیږی نو دَ هغه ایت په آخر کښې الظالمون ذکر کړو
او دَ دے ایت په اول کښې صیغه دَ امر (اجتنبوا) ده او دَ امر په امتثال سره (په عمل کولو)
دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه رحمتونه راځی دَ دے وجے نه ئے په تواب رحیم سره ختم کړو۔
سلا په دے ایت کښې اووم ادب ذکر کوی چه سبب دَ اتحاد او اتفاق دے او دَ تفرق او دَ
فساد نه دَ بچ کیدلو خائسته طریقه ده حاصل دا دے (سره دَ ربط دَ ماقبل نه) چه بو
انسان دَ بل انسان سپک والے او بخیله تکبر دَ دے وجے نه کوی چه زما جنس جدا دے
نو دا غلطه ده ځکه چه ټول دَ یو مور او پلار نه پیدا دی او یا به تکبر دَ نسب دَ وجے نه کوی
نو نسب بغیر دَ تقویٰ نه هیڅ سبب دَ عزت نه دے بلکه صرف دَ تعارف او دَ پیژندګلو
دَپاره دے هاں عزت صرف په تقویٰ سره دے او متقی سړے دَ بل چا سپک والے او
بخیله تکبر نه کوی بلکه دَ تقویٰ دَ وجے دَ تیر شوی ناکاره خصلتونو نه ځان بچ کوی۔
يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ په دے ادب کښې عام خطاب ئے ذکر کړو ځکه چه هم جنس کیدل او تفاوت
دَ نسبونو په مؤمنانو پورے خاص نه دے کافران هم ټول دَ ادم او حواء علیهما السّلام
اولاد دی او مختلف نسبونه پکښې شته دے۔ مِّنْ ذَكَرٍ وَّأُنْثٰى مراد دَ دے نه ادم او حواء
علیهما السلام دی یا هر مور او پلار دی لیکن اول قول اصح دے او دا دلیل دے چه
دَ بچی پیدائش دَ اوبو دَ پلار او مور دواړو نه دے لکه سورة طارق سک کښې تصریح ده
او په کوم ایاتونو کښې چه ماء مفرد ذکر دے لکه سورة مرسلات سنٹ او قیامه سکٹ نو مراد
دَ مفرد نه تثنیه ده یعنی دوه اوبه دَ مذکر او مؤنث لکه تفسیر قرطبی کښې ذکر دی۔

وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ

او لیکن وایئ چه مونږ اسلام قبول کړیدے او تراوسه نه دے داخل شوے ایمان په

وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ اول ئې خَلَق ذکرکړو او دلته ئې جعل ذکرکړو ځکه چه اصولو کښ اکثر خَلْق ذکرکیږی او په اوصافو او فروعو کښ جعل ذکرکیږی لکه سورة انعام سـ کښ هم دلیے دی. شُعُوْبًا جمع دَ شعب ده لرے نیکو ته ویلے کیږی لکه چه په عربو کښ ربیعه، مضر، اوس، خزرج ؓ او شعب دَ اضدادو نه دے جمع او تفرق دواړو ته ویلے کیږی ځکه چه دوی په یو اصل کښ متفرق نسلونه جمع شوے وی. وَّقَبَآئِلَ جمع دَقبیلة ده دَ شعب نه لاندے نیکونو ته منسوب وی لکه چه کنانه یو قبیله ده او دا سے اُوه طبقات اهلِ علمو لیکلے دی اول شعب بیا قبیله بیا عماره بیا بطن بیا فخذ بیا فصیلة (دا په سورة معارج ۱۳ کښ ذکرده) بیا عشیره (لکه سورة توبه ۲۴ کښ ذکرده). چادَ شعوب او قبائلو نور فرقونه هم ذکرکړے دی. او دا دوه قسمونه ئې خاص کړل په ذکر سره ځکه چه اول تعارف دَ دے نه شورو کیږی بله وجه دا ده چه فخر په نسبونو کښ په دے دوؤ سره وی په لاندے خاندانو سره فخر نه کیږی لکه په دے ملک کښ ویلے کیږی دَ فخر په طور سره چه زه پښتون یم یا سیّد یم لاندے خاندان نه ذکرکوی او دا جمله دلیل دے چه تقسیم دَ نسبونو دَ الله تعالیٰ اختیار کښ دے دَ دے وجے نه په حدیث صحیح کښ په هغه چا باندے لعنت ویلے دے چه څوك خپل نسب بدلوی او دَ خپل اَبٌ نه سیوا بل اَبٌ ته نسبت کوی. لِتَعَارَفُوْا دا حکمت دے دَپاره دَ تقسیم دَ نسبونو چه خپل نسبونه او پیژنئ او دَ هغے دَ وجے نه صله رحمی اوکړئ. حدیث دَ ترمذی کښ راغلے دی" چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی چه دَ خپلو نسبونو نه دومره اېزده کړئ چه صله رحمی پرے کوئ". دا ښکاره دلیل دے چه نسبونه دَپاره دَ فخر او تکبّر او دَپاره دَ عزت او شرافت نه دی نو فخر کول په نسب باندے دا خوئی دَ جاهلیت والو دے او حدیث دَ مسند بزار کښ (چه ابن کثیر هم ذکرکړے دے) راغلے دی" چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی چه تاسو ټول دَ خاورو نه پیدا شوی یئ او ضرور منع دِ شی هغه کسان چه فخر کوی په پلارانو (نسبونو) باندے یا به دوی ډیر سپک شی په نیز دَ الله تعالیٰ دَ ګونګټانو نه".

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ دا علت دَ مقدر (ربط) کلام دے یعنی نه دے نسب دَپاره دَ فخر او عزت ځکه چه ان اکرمکم الخ یعنی دَ الله تعالیٰ په نیز سبب دَ اوچت والی دَ مرتبے او دَ کرامت صرف تقویٰ ده. او قرطبی ویلے دی چه تقویٰ دَ الله تعالیٰ (پلے په بل مخ)

قُلُوْبِكُمْ ۭ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ

زړونو ستاسو کښې او که چرې تابعداري کوئې تاسو د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نو نه به کمې کړي هغه ستاسو د

اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ

عملونو نه هيڅ يقيناً الله تعالیٰ بخښنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ يقيناً مؤمنان

د حدودو په امر او نهې کښې لحاظ کول دی او ځان موصوف کول په هغې چه الله تعالیٰ د هغې امر کړے دے او ځان بچ ساتل د هغې نه چه الله تعالیٰ د هغې نه نهې (منع) کړے ده۔ اَکْرَمَ صيغه د اسم تفضيل يئ د دے وجې نه ذکر کړے ده چه په نفسِ کرامت (عزت) کښې ټول انسانان شريک دی لکه په سورة اسراء ۷۰ کښې ذکر شوے دی او لفظ د عِنْدَ اللّٰهِ کښې اشاره ده چه د خلقو په نيز عزتمن کيدلو ته اعتبار نيشته د الله تعالیٰ په نيز عزت حاصلول لوئې مقصد دے او په عِنْدَ کښې معنیٰ د قربت ده۔ او اَتْقٰكُمْ اسم تفضيل کښې اشاره ده چه د تقویٰ هم مختلف مرتبې دی نو کرامت عند الله هم په تفاوت سره دے۔

سوال :۔ علم سبب د شرافت او د لوئې مرتبې دے په دليل د نورو نصوصو سره او دلته يئ تقویٰ ذکر کړه د دے څه تطبيق دے؟

جواب :۔ اول دا چه تقویٰ په اصل کښې عمل کول دی په علم باندے نو اشاره ده چه صرف علم (بے عمله) سبب د کرامت نه دے بلکه د علم سره عمل ضروري دے۔ دوېم دا چه علم سبب د تقویٰ دے لکه په سورة فاطر ۲۸ کښې دی او تقوی سبب د کرامت دے نو دلته يئ سببِ قريبه ذکر کړو چه هغه مقصدي دے۔ او دا آيت دلالت کوي چه په نکاح کښې کفاءت د دين په لحاظ سره مقدم دے او حديث صحيح کښې هم ذکر دی "چه د ښځې سره د (يو) د څلورو وجو نه نکاح کيدے شي د مال وجې نه، د جمال د وجې نه د نسب د وجې نه او د دين د وجې نه نو ته ځان کامياب کړه په دين والا باندے" او روستو د ديندارئ نه کفاءت د نسب په نيز د بعضے علماؤ معتبر دے چه په خپل محل کښې د دے د پاره دليلونه ذکر کيږي۔

سکله ربط د دے د مخکښې مضمون سره دا دے چه په دے آيت کښې ذکر کړے شو باندے خوک عمل کوي صرف ظاهري عملونه (مونځ او دس وغيره) کوي او دعوئ د ايمان کوي نو هغه منافق دے په هغه باندے اعتبار مه کوئې او ربط د مخکښې آيت سره دا دے

اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ یَرْتَابُوْا وَ

هغه کسان دی چه ایمان ئې راوړے دے په الله تعالیٰ او رسول د هغه باندې بیا ئې هیڅ شک نه دے کړے او

چه منافقانو ویل چه زمونږ نسب هم اوچت دے او ایمان والا هم یو او تقویٰ خو په ایمان سره ده نو مونږ د صحابه کرامو نه) غوره یو نو په دے ایت کښې د هغوی رد کوی او زجر دے په مجرّد دعویٰ د ایمان سره چه په حقیقت کښې ایمان نه وی صرف عمل وی نو هغې ته اعتبار نیشته.

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا دا قول د بعض بانړچیانو دے چه هغه په سورة توبه ۹ ۹۸ کښې ذکر دی او مقصد په دیکښې تحذیر دے ټول امت ته د دوی د طریقې نه او دعویٰ په اٰمَنَّا سره ئې د پاره د دنیوی اغراضو کوله او اشاره ئې کوله چه مونږ تقویٰ والا یو نو اکرم یو. قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا دا نفی داسې ده لکه په سورة بقره ۸ کښې تیره شوې ده او دلیل د عدم ایمان د دوی مخالفت کول دی د دوی د ادابو د دے سورت نه، خصوصاً اول او دویم ادب ځکه چه د هغه دواړو مخالفت کول مستلزم دے (حبطِ عمل) او کفر لره. وَلٰكِنْ قُوْلُوْۤا اَسْلَمْنَا مراد د دے ظاهری انقیاد او بعض عملونه کول دی د پاره د حفاظت د ځانونو او مالونو خپلو او د پاره د حصول د غنیمتونو او زکوٰة. او دا دلیل دے چه اسلام دوه قسمه دے اول صرف استسلام او ظاهری انقیاد دے بغیر د تصدیق د زړه نه او دویم قسم انقیاد په ژبه او زړه او اندامونو سره دے لکه په قول د ابراهیم علیه السّلام کښې اسلمت لرب العالمین بقره ۱۳۱ او ان الدین عند الله الاسلام العمران ۱۹ او داسې تقسیم امام بخاری په ترجمة الباب کښې ذکر کړے دے (بَابٌ اِذَا لَمْ یَكُنِ الْاِسْلَامُ عَلَى الْحَقِیْقَةِ وَكَانَ عَلَى الْاِسْتِسْلَامِ اَوِ الْخَوْفِ مِنَ الْقَتْلِ لِقَوْلِهٖ تَعَالٰى (قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْۤا اَسْلَمْنَا) فَاِذَا كَانَ عَلَى الْحَقِیْقَةِ فَهُوَ عَلٰى قَوْلِهٖ تَعَالٰى (اِنَّ الدِّیْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ (کتاب الایمان) او دا ایت ښکاره دلالت کوی چه په صرف عمل کولو بغیر د یقین او تصدیق قلبی نه انسان مؤمن نه جوړیږی. وَلَمَّا یَدْخُلِ الْاِیْمَانُ فِیْ قُلُوْبِكُمْ دا علت دے د دے قول چه لَمْ تُؤْمِنُوْا او مراد د ایمان نه تصدیق او یقین دے او محل د هغې قلب دے او دا دلیل دے چه صرف اقرار په اٰمنا او په کلمه د توحید سره بغیر د تصدیق قلبی نه ایمان، ایمان شرعی نه دے. خطیب شربینی نقل کړیدی چه عام خلق غفلت والا په ننی زمانه کښې په داسې حالت کښې دی. وَاِنْ تُطِیْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ دا جمله دلیل دے چه اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم علامت د صحیح ایمان دے. لَا یَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَیْـًٔا اشاره ده چه اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم سبب د قبولیت د عملونو دے او مخالفت کول (پاتے په بل مخ)

جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

او جهاد ئې کړے دے په مالونو خپلو او نفسونو خپلو سره په لار دَ الله تعالیٰ کښې

اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ⑮ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ

دغه کسان دوی رشتني دي ۔ ته اووايه آيا خبروركوئ تاسو الله تعالیٰ ته په دين خپل سره

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ

او الله تعالیٰ عالم دے په هغه څه چه په آسمانونو او هغه څه چه په زمکه کښې دي او الله تعالیٰ

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ⑯ يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا ؕ

په هر څيز باندے پوهه دے ۔ زباد نه کوي دوي په تا باندے چه دوي اسلام راوړے دے

دَ دوي سبب دَ نقصان يا دَ بربادئ دَ ثواب دے ۔ او هر کله چه اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلّی الله عليه وسلّم يو شے دے دَ دے وجے نه لَا يَلِتْكُمْ ئې مفرد صيغه ذکر کړے ده اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ اشاره ده چه اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلّی الله عليه وسلّم سبب دَ مغفرت او دَ رحمت دے ۔

سـ۱۵ په دے آيت کښې ذکر دَ حقيقت دَ ايمان شرعي دے په رد دَ منافقانو کښې چه هغوي دعوي دَ ايمان کوي ليکن دروغژن دي په دے دعوي کښې ۔ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا مراد دَ ارتياب (شک) نه دا دے علاوه کول دي چه علامت دَ کفر او دَ شرک وي چه بعض دَ هغے نه مخالفت کول دَ آدابو دَ دے سورت دي ۔ وَجٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ اه مراد دَ دے هر هغه محنت او کوشش کول دي چه دَ ايمان په تقاضا سره وي او مال يا نفس پکښې خرچ کيږي او مالونه ئې دلته مخکښې ذکر کړل اشاره ده چه منافق سړے عمل په بدن سره کله کله کوي دَ ريا وغيره دَ پاره ليکن خرچ دَ مال في سبيل الله کښې ډير بخيل وي ۔ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ په ديکښې تعريض دے په هغه چا باندے چه دا شرطونه دَ ايمان په چا کښې موجود نه وي نو هغه په دعوي دَ ايمان کښې دروغژن دے ۔

سـ۱۶ دا زجر دے منافقانو ته يعني هر کله چه دعوي دَ دوي په اٰمَنَّا سره دَ دروغو ده نو په اٰمَنَّا ويلو کښې دَ دوي دوه مقصدونه دي اول دا چه الله تعالیٰ خبر ورکوي په خپل ايمان سره دويم دا چه په رسول صلّی الله عليه وسلّم باندے احسان او زباد نه کوي نو په دے آيت کښې په اول مقصد دَ دوي باندے زورنه ورکوي ۔ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اه په دے جمله او دروستني

قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ

ته اووايه زيادته مه کوئ په ما باندے د اسلام ستاسو بلکه الله تعالىٰ زيادته کوى په تاسو باندے

اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾

د دے خبرے چه تاسو ته هدايت د ايمان کړيدے که چرے تاسو رشتني يئ۔

جمله کښ رد د شرك فى العلم دے او حرف د ما دلته د تعميم د پاره دے يعنى الله تعالىٰ چه په هر څيز باندے عالم دے نو هغه ته د دروغو د ايمان خبر ولے ورکوئ هغه خو ستاسو په درغو باندے هم عالم دے۔

فائده :۔ که پيغمبر په هر څيز باندے عالم وے نو پکار وو چه په دے ايت کښ د هغه ذکر هم الله تعالىٰ د ځان سره يو ځائے کړے وے ليکن هغه په هر څيز عالم نه دے او عالم الغيب هم نه دے۔

سـ۱۷ دا ايل زجر دے د منافقانو په دويم مقصد باندے چه په رسول صلى الله عليه وسلم باندے زيادته کول دى۔ اَنْ اَسْلَمُوْا (سوال) دوى خو دعوىٰ د امنّا کړے ده د اسلام ئے خو نه ده کړے ؟ (جواب) دعوىٰ د ايمان متضمن ده دعوے د اسلام لره ځکه چه ايمان شرعى انقياد باطنى او ظاهرى دواړو ته شامل دے ليکن دلته ئے د اَسْلَمُوْا ذکر د دے وجے نه اوکړو چه دوى په بعض عملونو کښ د نبى صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو سره ظاهرى شرکت کوو لکه مونځ کول، جهاد کول وغيره او بيا به ئے په نبى صلى الله عليه وسلم احسان خيژ وو چه مونږ ستا ملګرتيا کوو۔ لکه اوس هم بعض نايوهان په سنت طريقے يو کار اوکړى نو بيا په خپل مشر يا استاذ باندے احسانونه خيژ وى۔ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ (سوال) په دوى کښ ايمان په حقيقت کښ موجود نه وو نو څه رنګ ئے دا اوفرمائيل ؟ (اول جواب) دلته ئے حصول د ايمان د دوى ته دے ذکر کړے بلکه هدايت ايمان ته په رالېږلو د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره لکه چه سورة ال عمران سـ۱۶۴ کښ ذکر شوے دى۔

(دويم جواب) مراد د لِلْاِيْمَانِ دا دے چه تاسو د کوم ايمان دعوىٰ کوئے (اګر چه په دروغه سره ده) نو د دے ايمان خو دنه خو الله تعالىٰ کړے ده نو د هغه احسان منل پکار دى او دا ايت دليل دے چه د داعى الى الحق احسان د هغه په خلقو باندے۔

فائده :۔ مَنّ اظهار د نعمت دے په بل چا باندے د پاره د طلب د شکر کولو او دا د مخلوق د پاره حرام دے لکه سورة بقره سـ۲۶۴ کښ ذکر دے ځکه چه دوى د ر پاتے په بل منع)

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَاللَّهُ

یقینًا الله تعالٰی پوهه دے په پټو خبرو د اسمانونو او د زمکے او الله تعالٰی

بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ ع

لیدونکے د هغه کارونو دے چه تاسو ئے کوئے۔

مخلوق ته د شکر کولو مطالبه او نیت اوکړی نو د الله تعالٰی د طرف نه جزاء ته ملاویږی او الله تعالٰی خو بندے اغستلو ته محتاج نه دے صرف د بندګانو شکر کول د هغوی د فائدے د پاره ځواړی نو الله تعالٰی له د منت کولو حق شته دے۔

خطیب شربینی ویلے دی" احسان زیادل چه د مخلوق د طرفه دی نو نعمت خرکړی او چه د الله تعالٰی د طرف نه دی نو نعمت مزیدارشی" او دا ایت دلیل دے چه انسان ته په هره درجه کښ هدایت یا نعمت ملاؤ شی نو د الله تعالٰی د طرف نه ئے اوګڼړی او په هغے باندے د لوئی نه کوی۔ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ اشاره ده چه رشتنے ایمان نعمت د الله تعالٰی دے۔

سا۱۸ په دے کښ اشاره ده ردکولو ته په منافقانو باندے یعنی اے منافقانو تاسو په دعوی د ایمان کښ صادق نه یئ ځکه چه الله تعالٰی په غیبو باندے عالم دے نو ستاسو په زړونو باندے هم عالم دے او په دے ایت کښ رد دے په شرك في العلم باندے په دوه طریقو سره اول داچه هرڅه چه پټ دی د مخلوق نه په اسمانونو او زمکو کښ نو الله تعالٰی په هغے باندے عالم دے۔ دویم داچه مخلوق څه عملونه کوی ښکاره او پټ نو الله تعالٰی په هغے باندے عالم او بصیر دے او دا دواړه صفتونه په هیڅ مخلوق کښ نشی موجود کیدلے یو صفت د علم غیب او دویم صفت د علم بِكُلِّ شَيْءٍ دا الله تعالٰی پورے خاص دی۔

ختم شو تفسیر د سورة الحجرات په فضل د الله تعالٰی سره

الحمد لله۔

آیَاتُهَا ۴۵ / رُکُوْعَاتُهَا ۳	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	سُوْرَةُ قٓ ٥٠ مَکِّیَّةٌ ۳۴

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ ① بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ

اللہ تعالیٰ بنهٔ پوهه دے په مراد د دے۔ قسم دے په قرآن شرافت والا۔ بلکه تعجب کوی دوی د دے نه چه راغلے د دوی ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سُوْرَةُ قٓ

د دے سورت نه څلورم باب دے دپاره د اثبات د قیامت او په دے کښ څلور سورتونه دی قٓ ، ذاریات، طور، نجم۔

ربط د دے سورت د مخکښ سورت سره په څو طریقو دے اوله دا چه هرکله اداب د اتحاد د مؤمنانو دپاره ذکر شول نو په دے سورت کښ د دغه ادابو د رعایت دپاره تخویف ذکر کوی په راتللو د یوم الخروج ، یوم الوعید ، یوم الخلود سره۔ دویمه طریقه هرکله چه ذکر شو چه کرامت په سبب د تقویٰ سره دے نو په دے سورة کښ ذکر کوی شان د متقیانو۔ دریمه دا چه هر کله ذکر کړے شو حال د مؤمنانو او منافقانو نو په دے کښ ذکر کوی حال د کافرانو۔

دعویٰ د دے سورت اثبات د بعث بعد الموت دے په ذکر د خروج د مړو د زمکے نه په ۱۱ او ۴۲ کښ او په عذابونو دنیویه سره په تیر شوی قومونو باندے او اثبات د توحید دے په رد د شرک فی التصرف والعلم او په ذکر د څلورو اسماء حسنیٰ سره۔

خلاصه د دے سورت دا ده چه دے تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۱ پورے دے په دے کښ شهادت د قرآن ذکر کوی په اثبات د بعث بعد الموت باندے په ۱ کښ بیا زجرونه دی منکرینو ته په ۲ ۳ ۵ کښ بیا یو دلیل عقلی علمی او درے دلیلونه عقلیه تصرفی علوی وسطی او سفلی ذکر کوی د پاره د اثبات د قیامت او هر دلیل مشتمل دے په درے خیزونو باندے بیا دعوی د سورت په ۱۱ کښ بیا ذکر د عذاب دے۔ په تیر شوے منکرینو باندے د پاره د تخویف د موجوده خلقو په درے ایاتونو کښ بیا زجر دے په ۱۵ کښ۔

تفسیر ۱ قٓ دا د مقطعاتو نه دے په دے کښ ډیرو سورتونو کښ بحث تیر شوے دے. دلته یو قول دا دے چه په حرف قٓ باندے قسم ذکر کوی او هرکله چه (رپاتے په بل مخ)

المنزل السابع

مُّنۡذِرٌ مِّنۡهُمۡ فَقَالَ الۡكٰفِرُوۡنَ هٰذَا شَیۡءٌ عَجِیۡبٌ ﴿۲﴾

ډيره ورکوونکے دَدوی نه نو وائی کافران چه دا نااشنا خیز دے۔

حرف مقسم بهٖ وی نو حرف قسم راوړلو ته ضرورت نه وی لکه دا. او کله چه مقسم بهٖ نور خیزونه بغیر دَحروف مقطعات نه وی نو واو دَقسم دَپاره ذکر کیږی لکه والطور والصافات وغیره او په دے سورت کښ داسے الفاظ چه مشتمل دی په حرف دَقاف باندے اته څلویښت دی نو دا هم وجه دَمناسبت ده دَحرف قاف سره په اول دَ دے سورت کښ.

او ابن کثیر هغه قول ذکر کړے دے چه چا ویلے دی چه مراد په دے سره کوهِ قاف غر دے نو بیا ئے ویلی دی چه دا دَزنادِقو خبرے دی او په دے کښ چه کوم روایت دَابوحاتم رازی دے نو هغه اکثر منقطع دے. وَالۡقُرۡاٰنِ الۡمَجِیۡدِ دا هم قسم دے او تفصیل دَقسم په قرآن باندے دَسورة یٰس په اول کښ تیر شوید ے. الۡمَجِیۡدِ لوئے قدر والا، عزت والا، شرافت والا، ډیرو فائدو والا ته وئیلے کیږی سورة یٰس کښ والقرآن الحکیم ذکر کړے وو ځکه چه په هغه سورت کښ دَالله تعالیٰ ډیر حکمتونه ئے ذکر کړے وو او په دے سورت کښ دَالله تعالیٰ دَقدرت او دَعظمت ذکر کوی. دَ دے قسم په جواب کښ ډیر اختلاف دے بعضو محذوف راویستلے دے چه لیبعثن (راپورته به کړے شی) ماردوا قولك بحجة (نه ده رد کړے دوی خبره ستا په دلیل سره) غوره دا چه روستو ایت جواب قسم دے او بَلۡ هم په جواب قسم کښ ذکر کیدلے شی او په معنیٰ دَقد سره رازی.

ســـ بَلۡ عَجِبُوۡۤا اَنۡ جَآءَهُمۡ دلته من پټ دے یعنی تعجب ئے دَرسول دَبشریت نه کړے دے لکه سورة تغابن سـ۶ کښ دی. یا متعجب مِنه (هغه خیز چه دوی ترے تعجب کړیدے) پټ دے یعنی من الخبر بالبعث (دَخبر دَدوباره ژوند نه) لکه چه روستو ایت کښ ذکر دے. او دَ اَنۡ جَآءَهُمۡ نه مخکښ لام پټ دے یعنی لان جاءهم نو دا وجه دَتعجب شوه. مُّنۡذِرٌ هر کله چه مقصد دَسورة بعث بعد الموت ثابتول دی او دا مسئله دَانذار (ویرے) ده دَ دے وجے نه صرف انذار ئے ذکر کړو. مِّنۡهُمۡ دَدوی دَجنس نه، دا ډیرو سورتونو کښ ذکر شویدی چه جاهلانو په هر وخت کښ دَبشریت دَرسولانو نه انکار کړے دے. فَقَالَ الۡکٰفِرُوۡنَ دا تفصیل دَتعجب کولو دے او لفظ دَکافرون سره ئے اشاره اوکړه دَدوی قبیح حال ته. هٰذَا شَیۡءٌ غوره دا ده چه هذا سره اشاره ده بعث بعد الموت ته لکه روستو ایت کښ ذکر کوی بعض علماؤ ویلے دی چه اشاره ده توحید ته لکه سورة ص سـ۵ کښ او بعضو ویلے دی چه اشاره ده چه رسول بشر دے. عَجِیۡبٌ کوم کار

ءَاِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ۝٣ قَدْ

ایا هرکله چه مونږ مړه شو او شو مونږ خاورے نو دا واپسی دَ عقل نه لرے ده ۔ یقینًا

عَلِمْنَا مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ

پوهه یو مونږ په هغه چه کموی زمکه دَ دوی نه او زمونږ سره کتاب دے

حَفِيْظٌ ۝٤ بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ

ساتونکے دَ عملونو دَ دوی ۔ بلکه دوی دروغژن گڼړی حق لره هر کله چه دوی ته راغے نو دوی

چه دَ عادت دَ خلقو نه خلاف وی نو هغے ته دوی عجیبه او نا اشنا وائی ۔ لیکن هرکله چه دَ الله تعالیٰ په قدرتونو باندے فکر اوکړیشی نو دوباره ژوندی کول هیڅ نا اشنا کار نه دے نو دَ منکرانو دا تعجب کول بے ځایه دی ۔ عَجِیْبٌ لګ نا اشنا ته ویلے کیږی او عجّاب ډیر نا اشنا ته ویلے کیږی نو هرکله چه مشرکانو دَ توحید مسئله ډیره نا اشنا ګڼړله او ویل ئے چه دا مونږ دَ خپلو مشرانو نه اوریدلے نه ده نو دَ دے وجه نه ئے په سورة ص سـ۵ کښ عجاب ذکر کړے او مسئله دَ بعث بعد الموت ځو دَ مشرانو نه اوریدلے ده لکه سورة مؤمنون سـ۸۲ کښ دی لیکن دَ عقل نه ئے لرے ګڼړله دَ دے وجے نه دلته او سورة رعد سـ۵ کښ صرف عجیب اُویل ۔

سـ۳ دا بیان دَ متعجب منه (چه دَ هغے نه تعجب ئے کوؤ) دے په تفصیل سره او دَ پاره دَ تاکید دَ تعجب ئے همزه دَ استفهام انکاری په اول کښ راوړو او دَ تُرَابًا نه روستو تقدیر دے یعنی نبعث په قرینه دَ سورة مؤمنون سـ۸۲ او صافات سـ۱۶ او واقعه سـ۴۷ سره او بعث دلالت کوی په واپس کولو باندے دَ دے وجے نه ئے ذٰلِكَ رَجْعٌ اُویل ذٰلِكَ اشاره ده بعث ته چه دَ نبعث مقدر کښ مصدر پټ دے او رَجْعٌ متعدی دے واپس کولو ته ویلے کیږی او رجوع لازم ده واپس کیدلو ته وائی ۔ بَعِیْدٌ مراد دَ دے نه لرے والے دے دَ عقل او عادت نه ۔

سـ۴ دا رد دے دَ دوی په تعجب او انکار کولو دَ بعث نه او دلیل عقلی علمی دے په بعث بعد الموت باندے یعنی هغه ذات چه عالم دے په ټولو اجزاؤ دَ هر بدن باندے جُدا جُدا او دَ دوی په عملونو باندے نو هغه ضرور قادر دے په دوباره اجزاء یو ځائے کولو او ژوندی کولو باندے ۔ مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ په دے کښ دَ مفسرینو درے توجیهات دی اوله دا چه ټول بدن خاورے او خوری لیکن (رپاتے په بل مخ)

فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝۵ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ

په خبره ګډه وډه کښې دي .	ايا نو دوي نه ګوري	اسمان ته	دپاسه دَ دوي	

عجب الذنب (لکه لَسے) نه خاورے کیږي او دا صحیح حدیث کښې هم راغلے دی . دویمه توجیه دا ده چه څوک مړهٔ شي اوڅوک ژوندی پاتے وي څه وخت پورے . دریمه توجیه دا ده چه دَ ډیرو انسانانو بدنونه خاورے کیږي او دَ بعض انسانانو لکه انبیاء علیهم السلام او دَ بعض اولیاؤ شهداؤ بدنونه نه خاورے کیږي . وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ مراد دَ کتاب نه هغه کتاب دے چه ملائکو پکښې عملونه دَ انسانانو لیکلے دی نو دَ حفیظ معنیٰ دا چه دَ تمام عملونو حفاظت ئے کړیدے لکه په سورة کهف ۴۹ کښې ذکر وؤ نو حفیظ په معنیٰ دَ حافظ دے لکه سورة انعام ۱۰۴ یا مراد دَ کتاب نه لوح محفوظ دے چه په هغے کښې دَ دوی نومونه او عملونه وغیره لیکلے شوي دي نو حفیظ په معنیٰ دَ محفوظ دے یعنی دَ شیطانانو نه او دَ تغییر او تبدیل نه ساتلے شوے دے .

۵ دا دویم اضراب دے اول اضراب په دویم ایت کښې وؤ هغه زجر وؤ دَ دوی په تعجب کولو دَ بعث بعد الموت نه او په دے کښې زجر دے په تکذیب دَ دوی په باره دَ قرآن کښې چه هغه خبر ورکړے دے دَ بعث نه او په دے کښې ترقی ده ځکه چه تکذیب غټ کفر دے په نسبت دَ تعجب کولو او دا رنګ تعجب سبب دے دَ پاره دَ تکذیب . بِالْحَقِّ مراد دَ حق نه قرآن یا رسول یا خبر دَ بعث بعد الموت دے . لَمَّا جَآءَهُمْ په دے کښې اشاره ده چه دوی ته دے حق نه خه خبر شوی او بیا ئے هم تکذیب کړیدے . فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ مریج دَ مرج نه ماخوذ دے لکه مرج البحرین اختلاط او فساد ته ویلے کیږي او مراد دا چه په یو خبره باندے نه ټینګیږي بلکه وائي سحر دے نو بیا وائي شعر دے او کله وائي کهانت دے نو کله وائي دروغ دي او حق پوهنه دی لکه په سورة انبیاء ۳ ۵ کښې تیر شویدی یا مراد دَ دے نه ګډوډ دین دے یعنی دَ مشرکانو دین ګډوډ دے لکه چه دَ حسن بصری او قتادہ نه نقل کړے شویدی چه (مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْحَقَّ اِلَّا مَرَجَ اَمْرُهُمْ وَالْتَبَسَ عَلَيْهِمْ دِيْنُهُمْ) "یو قوم حق نه دے پریخودے مګر دَ هغوی حال خراب شي او دین ئے ګډ وډ شي" . او حرف دَ فَا په فهم کښې هم دلالت کوي په سببیت دَ ماقبل باندے دَ پاره دَ مابعد معنیٰ دا چه تکذیب سبب دَ مَرَج دے .

كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝٦ وَالْاَرْضَ

چه څه رنګ موږ جوړ کړیدے او ډولی کړیدے او نیشته . ذ دے چودل - او زمکه

مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ

اوګډه غوړولے ده موږ او اچولے دی موږ پدیکښ پاخه غرونه او زرغون کړیدی موږ پدیکښ ذ

كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝٧ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ

هر قسم بوټو نه تازه تازه . ذپاره ذ پوهه کولو او یاداشت ذپاره ذ هر

سـ ذ دے ایت نه تر یوولسم ایت پورے دلیلونه عقلیه آفاقیه ذکر کوی ذ پاره ذ اثبات ذ
بعث بعد الموت روستو ذ ذکر ذ تکذیب ذ ددی نه لکه چه روستو ذ تعجب نه ئے یو
دلیل علمی ذکر کړے وؤ. نو په دے ایت کښ دلیل عقلی علوی دے او مشتمل دے په
درے خیزونو باندے - یو بنا (جوړخ) ذ اسمان - دویم زینت ذ هغے په ستورو سره
لکه سورة صافات سـ کښ دی او دریم نه چاؤدل ذ هغے - فُرُوْجٍ ف ر ج اجزاء جدا
کیدلو ته ویلے کیږی نو مراد تری نه سورے کیدل او چاؤدل دی - یعنی اجزاء ذ اسمان
ذ یو بل سره پیوست او هموار دی لیکن دا صفت ذ دے تر ورځ ذ فنا پورے دے په
دلیل ذ سورة مرسلات سـ او تکویر سـ او انفطار سـ او انشقاق سـ سره -
سـ په دے ایت کښ دلیل عقلی سفلی دے او مشتمل دے په درے خیزونو باندے
اول مد الارض لکه سورة رعد سـ او سورة حجر سـ .
سوال :- ذ قیامت ذ قائمیدلو په وخت کښ هم راغلے دی وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ (انشقاق سـ)
نو ایا اوس ممدود نه ده ؟
جواب :- مراد ذ مد الارض نه اوس دا دے چه مفروشه ئے کړے ده داسے چه ذ
انسانانو ژوند پکښ تیریدے شی اګرچه غرونه، کندے ډیرے پکښ هم ذ انسانانو ذ فائدو
ذپاره شته او ذ ورځ ذ قیامت ذ مد نه مراد دا دے چه داسے به ئے راکاږی چه غرونه
او کندے به ذ دے نه لرے شی لکه سورة طٰه سـ کښ شته دے - دویم رواسيَ (غرونه)
په زمکه کښ اودرول لکه سورة رعد سـ او سورة حجر سـ او سورة نحل سـ او سورة انبیاء
سـ او سورة نمل سـ او سورة لقمان سـ او سورة حٰم سجده سـ او سورة مرسلات سـ
کښ او سورة نازعات سـ کښ ذکر دی - دریم انبات ذ بوټو په زمکه کښ - زَوْجٍ اقسام ذ
بوټو مراد دی چه ذ یو بل سره په بعض صفتونو کښ مشابهت او موافقت لری (یا ئے په بل مخ)

عَبۡدٍ مُّنِيۡبٍ ﴿۸﴾ وَنَزَّلۡنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا

بنده دَ حق طلبګار - او راورولے دی مونږ دَ طرف دَ اسمان نه اوبه برکت والا

فَاَنۡۢبَتۡنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الۡحَصِيۡدِ ﴿۹﴾ وَالنَّخۡلَ

نو زرغون کړیدی مونږ په سبب دَ هغے باغونه او دانے (چه بوټی) ئے لو کیدیشی۔ او اونے دَ کجورو

اګرچه په نورو صفتونو کښ جُدا وی. بَهِيۡجٍ کښ اشاره ده چه دغه بوټی لکه چه دَ خوراک دَپاره دی نو دا رنګ دَ سیل کولو او دَ رونق دَپاره هم دی۔

ف ۸ په دے ایت کښ دَ مخکښ دواړه دلیلونو فائدے ذکر کوی اوله فائده تَبۡصِرَةً او دویمه ذِكۡرٰى او دَ دے دواړو دَ منصوب کیدلو وجه داده چه دا مفعول لهٗ دے دَ مخکښ دَپاره یا مفعول به دے دَ فعل محذوف دَپاره یعنی جعلناها تبصرةً وذکرٰی یا مفعول مطلق یاحال دے بیا دا دواړه فائدے دَ اسمانونو او زمکے دواړو سره تعلق لری یعنی دواړه فائدے په اسمانونو کښ هم دی او په زمکه کښ هم دی یا په طریقه دَ لف نشر مرتب سره دی یعنی اسمانو نه تبصرةً او زمکه ذکرٰی ده۔ فرق په مینځ دَ دواړو کښ دا دے چه تبصرة هغه عبرت دے چه په نظر کولو سره حاصلیږی او ذِكۡرٰى هغه نصیحت دے چه دَ عقل او دَ زړه په ذریعه حاصلیږی یا تبصرةً دلیلونو دَ توحید او ذِکرٰی دلیلونو دَ بعث بعد الموت ته اشاره ده۔ په عَبۡدٍ کښ اشاره ده چه دا فائدے په صفت دَ عبدیت سره حاصلیږی نه په تکبر سره او په مُّنِيۡبٍ کښ اشاره ده چه دا فائدے په عناد او ضد کولو سره نه حاصلیږی بلکه هغه څوک چه دَ شهواتو نفسانیو نه اوګرځی حق طرف ته نو فائده اخستلے شی۔

ف ۹ دا بل دلیل دے دلیل عقلی وسطی او دا هم مشتمل دے په درے څیزونو باندے اول اِنۡزَالُ الۡمَآءِ یعنی بارانونه ورول دویم باغات پیدا کول دریم دانے او غلے زرغونول۔ نَزَّلۡنَا په دے لفظ کښ اشاره ده چه بارانونه وخت په وخت ورولو کښ ډیرے فائدے دی باب تفعیل صیغه په دے باندے دلالت کوی مُّبٰرَكًا هغه باران چه په هغے سره زمکه تازه شی او فضا صفا شی او مرضونه هم کم شی دَ دے قسم برکات په بارانونو کښ الله تعالیٰ پیدا کړے دی۔ جَنّٰتٍ باغونه دَ اونو او دنګو بوټو مراد دی۔ مخکښ ایت کښ هم انبات ذکر کړے وۀ او په دے ایت کښ دوباره ذکر کړو دَ دے فرق په ډیرو وجو سره دے اوله وجه دا چه هغه انبات دَ باران نه وړاندے دَ زمکے په نموالی سره یا په اوبو دَ نهرونو او کویانو او چینو وغیره سره دے او په دے ایت کښ انبات په باران

بَاسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ⑩ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا

دنګ چه دَ هغې غونچکونه دي لاندے باندے - دَپاره دَ روزئ دَ بندګانو او تازه کړ يدلے مونږ

بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ؕ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ⑪ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

په دے سره زمکه اوچه دغسے راوتل دي (دَ قبرونو نه) - دَ دروغو نسبت کړے وو دَ دوئ نه مخکښ

سره دے چه باران کيدلو سره متصل بوټي او نے زرغون شي لکه حرف دَ فآ په فَانْۢبَتْنَا کښ په دے باندے دليل دے - دويمه وجه دا ده چه په هغه ايت کښ مقصد صفت دَ زوجيت وو او په دے ايت کښ ګُور والے او غټ والے دَ اونو مراد دے - دريمه وجه دا ده چه په هغه ايت کښ ضمير دَ فِيْهَا په يو احتمال سره رَوَاسِيَ ته راجع کيدے شي يعني بوټي دَ غرونو صرف مراد وو او په دے ايت کښ عام مراد دي - وَحَبَّ الْحَصِيْدِ په نيزد بصريانو دا په اصل کښ حب النبت الحصيد دے يعني دانے دَ هغه بوټو چه هغه بوټي لو کيدے شي او په نيزد کوفيانو دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته، او مراد دے نه غنم وريشے ږوږے وغيره دي چه بوټي پس دَ اوچيدلو نه لو کړے شي او بيا دَ غويل يا په نورو الاتو سره دَ هغے نه دانے را اويستلے شي۔

سلا دا يل دليل عقلي وسطي دے وَالنَّخْلَ عطف دے په جَنّٰتٍ باندے هر کله چه دَ کجورے اوصاف او فائدے دَ نورو اونو نه زيرے دي دَ دے وجے نه دائے جُدا ذکر کړو او دا دليل هم په درے خيزونو باندے مشتمل دے يو نخل - دويم بَاسِقٰت، بسوق دنګ والي ته ويلے کيږي او برابر ته هم ويلے کيږي او دريم لَهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ميوے دَ کجورے چه اول په يو بنده کسوره کښ بنکاره شي او بيا پرانستے شي نو هغې ته طلع ويلے کيږي او نضيد وړنه مخکښ دَ بنکاره کيدلو نه ويلے کيږي۔

سلا دا مخکښ دليلونو تتمه ده مشتمل ده په درے خيزونو باندے اول رِزْقًا لِّلْعِبَادِ دا مفعول مطلق دَ فعل محذوف دَپاره دے يا تميز يا مفعول له دے يا مفعول به په معنی دَ مرزوقا سره دے۔

سوال: دَ خلق دَ اسمانونو او زمکے نه روستو تبصرةً وذکرىٰ ذکر کړے وؤ او دَ بارانونو او دَ بوټو او ميوؤ دَ پيدائش نه روستو ئے رزقًا ذکر کړو دَ دے څه حکمت دے؟

جواب: دَ قيامت په اثبات کښ دوه مقصدونه دي اول قدرت دَ الله تعالیٰ په دوباره ژوندي کولو باندے او دويم مقصد باقي ساتل روستو دَ اعادے نه - نو اول ئے ر يا تے په بل مخ)

قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ⑫ وَعَادٌ وَّ

قوم دَ نوح علیه السلام او کوهی والو او ثمودیانو او عادیانو او

اشاره ده چه کوم ذات په پیدا کولو دَ اسمانونو او زمکو باندے قادر دے نو هغه په دوباره ژوندی کولو باندے ضرور قادر دے او دے عبرت ته تبصرةً او ذکریٰ ویلے کیږی او بیا ئے اشاره اوکړه چه کوم ذات په میوؤ او غلو سره تاسو ژوندی ساتی نو دغه ذات به په اٰخرت کښ خوامخواه تاسو ژوندی ساتلے شی او بقا او ژوند خو په رزق سره دے بیا دَ اول سره ئے عبد منیب قید لګولے دؤ او روستو سره ئے صرف عباد ویلے دے داځکه چه تبصرةً او ذکر حاصلول دَ یاره انابت ضروری دے او رزق خو ټولو بندګانو له ورکوی۔ دوئیم خبر دَ اَحْیَیْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّیْتًا دَ باران دَ فائدونه دا فائده ئے په اٰخر کښ خاص ذکر کړه ځکه مقصد خو اثبات دَ بعث بعد الموت دے او هغه په دے فائده ذکر کولو سره ښهٔ معلومیږی۔ دریم خبر کَذٰلِکَ الخروج دا دعویٰ دَ سورت ده یعنی لکه چه دَ زمکے نه باغات دانے بوټی روستو دَ وچ والی دَ هغے نه الله تعالیٰ راراویستل نو داسے به تاسو په مختلف شکلونو صورتونو صفتونو سره دَ قبرونو نه راوباسی په ورځ دَ قیامت نو دا اثبات دَ قیامت دے په قیاس کولو سره په بوټو راوتلو سره دَ زمکے نه پس دَ وچ والی دَ هغے نه۔ او حدیث کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم به اکثر په ورځ دَ اختر سورة قٓ لوستلو نو په دے کښ لطیفه اشاره ده دَ خبرے ته چه دَ اختر په ورځ مسلمانان دَ خپلو کورونو نه په مختلف هیئتونو کښ را اوځی نو دا رنګ به په ورځ دَ قیامت ټول خلق دَ خپلو عملونو په موافق په مختلف حالتونو کښ دَ قبرونو نه را اوځی۔

سـ۱۲ سـ۱۳ سـ۱۴ دا تخویف دنیوی دے په ذکرد اته قومونو مکذبینو سره او دَ هغوئ عذاب اجمالی په ذکر سره او ورسره تسلّی ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یعنی تحکنو دیرو او طاقت والا قومونو دَ بعث بعد الموت او دَ رسولانو تکذیب کړے دؤ نو په هغوی باندے عذابونه راغلل نو دا رنګ دا موجوده خلق هم دی۔

په اول ایت کښ درے قومونه ذکر کړل قوم نوح۔ اصحاب الرس او ثمود او په دوئیم ایت کښ هم درے دی عاد۔ فرعون او اخوان لوط۔ دریم ایت کښ دوه دی اصحاب الایکة او قوم تُبَّع۔ (حکمتونه) اول دا چه په سورة حج سـ۴۲ سـ۴۳ سـ۴۴ کښ اؤو قومونه دَ مکذبینو نه ذکر کړیدی خو په اصل ترتیب زمانی دَ هغوی سره ځکه په دغه ایاتونو کښ صرف تسلّی زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم ته مقصود وه چه دَ نورو انبیاؤ تکذیب کړے

فِرْعَوْنُ وَاِخْوَانُ لُوْطٍ ﴿۱۳﴾ وَّاَصْحٰبُ الْاَيْكَةِ

فرعون او قوم دَ لوط علیه السلام او بېړو والو

وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيْدِ ﴿۱۴﴾

او قوم دَ تُبّع ، دے ټولو رسولانو ته دروغژن وېلے دوُ نو راغے په دوی باندے زما عذاب۔

شوید ے او په سورة صٓ سے ۱۲ تا ۱۳ کښ ترتیب ئے بدل کړید ے ځکه چه په دغه سورت کښ ذکر دَ هغه مکذبینو مقصد دے چه تکذیب ئے دَ وجے دَ عزت (غرور) او شقاق دَ وجے نه کړید ے نو په غرور او شقاق کښ چه کوم یو قوم زیات دے هغه ئے مخکښ ذکر کړے دے په ترتیب سره او په دے سورة قٓ کښ تکذیب دَ عقلی دلیلونو (چه مخکښ ذکر شول) مقصود دے نو په کوم قوم کښ چه دغه جهل زیات دے نو هغه ئے مخکښ ذکر کړے دے په ترتیب سره۔ دوئیم اصحاب الرس صرف په سورة فرقان او په دے سورت کښ ذکر کړیدی په نورو سورتونو کښ په سلسله دَ اقوام مکذبو کښ هغوی نه دی ذکر کړی ځکه چه هغوی ډیر مشهور نه وو۔ درئیم اصحاب الایکه قوم دَ شعیب علیه السلام دے پشان دَ اصحاب مدین یا دواړه یو قوم دے دَ دے وجے نه سورة صٓ او قٓ کښ ئے دَ دوی په ذکر باندے اکتفا اوکړه۔ څلورم دلته ئے اخوانِ لوط ذکر کړو دَ دوی اخوت دَ لوط علیه السلام سره صرف دَ مصاهرت (سخرګنئ) په وجه سره وؤ او دے اخوت ته پوره اعتبار نیشته په نیز دَ عام خلقو باندے دَ دے وجے نه په نورو سورتونو کښ صرف قوم لوط وېلے وؤ او په دے سورت کښ اشاره ده دَ دوی نهایت جهل او سرکشئ ته چه دوی دَ خپلو لئے (یعنی دَ خپل زوم) لحاظ هم اونکړو دَ هغه تکذیب ئے اوکړو۔ پنځم قوم تبع ئے په هغه سورتونو کښ نه دے ذکر کړے په کومو کښ چه دَ اقوامو مکذبو ذکر کول مقصود وو سیوا دَ سورة دُخان سے ۳۷ او دَ دے سورت نه، ځکه چه دَ دغه په قوم کښ تکذیب زیات مشهور نه دے او دا رنګ عذاب دَ هغوی معروف نه دے۔ شپږم دلته ئے فرعون ذکر کړو قوم فرعون ئے نه دے ذکر کړے دیکښ اشاره ده چه فرعون دَ دوی امام وؤ او دوی دَ هغه په تقلید کښ تکذیب کړید ے نو دَ دوی دَ مشر ذکر ئے اوکړو ګویا چه دَ دوی وجود کالعدم دے دَ ډیر جهل دَ وجے نه۔ اوم دلته ئے تکذیب دوه کرته ذکر کړے دے دا اشاره ده چه اول تکذیب دَ عقلی دلیلونو دے او دوئم تکذیب دَ رسولانو (یعنی دَ وحی) دے۔ اتم سورة صٓ کښ "فَحَقَّ عِقَابِ" ذکر کړے دے او دلته ئے "فحق وعید" ذکر کړے دے یو وجه دا ده چه دیته رعایت دَ فواصلو (پاتے په بل مخ)

اَفَعَيِيْنَا بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ ۭ بَلْ هُمْ فِيْ لَبْسٍ مِّنْ

آیا موږ ستړي شوي یو په اول پیدائش باندي بلکه دوی په شک کښ دي د

خَلْقٍ جَدِيْدٍ ﴿۱۵﴾ ع وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ وَنَعْلَمُ ع ۱۵

پیدائش نوی نه ۔ او یقیناً پیدا کړي دے موږ انسان او پوهیږو

ویلے کیږی دَپاره دَفصاحت دَکلام یعنی سورة صٓ کښ فاصلے دَ ایاتونو په دلے لفظ سره دی چه دَلام کلمے نه مخکښ الف دی لکه شقاق ، عجاب ، عقاب وغیره او په دے سورت کښ فاصلے په دا سے لفظ سره دی چه دَلام کلمے نه مخکښ یٓ دی لکه مجید، حفیظ، بهیج ، وعید او دا په طریقه اکثری سره دی په دواړه سورتونو کښ۔ او بله وجه دا ده چه سورة صٓ کښ مرض دَ کافرانو عزت او شقاق ذکر کړے دے او دا سے وصف والا خلق دَ عاقبت دَ عمل خپل نه غافل وی نو هغوی ته ئے عقاب ذکر کړو چه دَ عاقبت نه ماخوذ دے او په دے سورت کښ انکار دَ وعد دَ بعث بعد الموت نه ذکر کړے او دَ هغے سره مناسب لفظ دَ وعید دے. (والله تعالیٰ اعلم بحکم کلامه)۔

۱۵ دا زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت سره دَ اشارے نه دلیل ته چه قیاس دے په خلق اول باندے او په دے زجر کښ اشاره ده چه دَ تیر شوے قومونو دَ تکذیب دَ قیامت دَپاره هم هیڅ دلیل نه وو دَ دے وجے نه دا زجر ئے دَ هغوی په تکذیب پسے ذکر کړو۔ اَفَعَيِيْنَا همزه دَپاره دَ استفهام انکاری دے او معطوف علیه دَ حرف فاحذف دے تقدیر دَ عبارت داسے دے أكَذَّبُوا فعيينا یعنی كَذَّبُوْا لِاَجل عجزنا وتعبنا (یعنی دوی تکذیب کړیدے دَ دے وجے موږ ستړے شوے یو دَ اول پیدائش نه) بِالْخَلْقِ الْاَوَّلِ مراد دَ خلق اول نه اول پیدائش دَ انسانانو دے لکه سورة یٰس ۷۹ کښ اشاره ده یا مراد دَ خلق اول نه پیدائش دَ اسمانونو ، زمکو، او نورو وغیره دے چه په مخکښ ایاتونو کښ ذکر شول او هغے ته اشاره ده په سورة یٰس ۸۱ کښ۔ لَبْسٍ لَبس کړووالے دے په خبرو کښ چه سبب دَ هغے سمه شک او شبهه دَ دوی ده نو دلته ذکر دَ مسبّب دے او مراد ترینه سبب دے۔

سوال :۔ دَ دوی تکذیب ئے مخکښ ۵ کښ ذکر کړے دے او دلته ئے شک ذکر کړو او شک خو ادنیٰ دے دَ تکذیب نه ؟

جواب :۔ په دے کښ اشاره ده چه دَ دوی دَ انکار او تکذیب دَپاره هیڅ دلیل نیشته په اصل کښ دَ دوی شک دے لیکن دَ ضد دَ وجے نه شک ئے انکار ته رسولے دے ۔

مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۚ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ

په هغه چه وسوسے اچوی دهٔ ته نفس دَ دهٔ او موږ ډیر نزدے یو دهٔ ته

مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ⑯ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ

دَ رګ دَ مرئ نه (چه زړه ته رسیږی)۔ کوم وخت چه را اخلی دوه ملائک اخستونکی دَ

س۱۶ دَ دے ایت نه دویم باب تر اخرهٔ سورت پورے دے۔ په دیکښ دلیل عقلی مختصر دے بیا ذکر دَ حفاظت الاعمال دے په کتابت دَ کرام کاتبینو سره دَ اثبات دَ بعث او حساب دَ پاره بیا ذکر دَ حالت دَ نزع دے دَ تخویف دَ پاره بیا تخویف اخروی تفصیلی دے په لس طریقو سره او شپږ صفات دَ اهلِ جهنم دی او ذکر دَ قرینانو او ذکر دَ حال دَ جهنم تر س۳۰ پورے دے بیا بشارت دے په پنځو طریقو په ذکر دَ پنځه صفتونو دَ اهل جنت تر س۳۵ پورے بیا تخویف دنیوی او ترغیب قرآن ته او دلیل عقلی دَ بعث بعد الموت په س۳۸ کښ بیا پنځه اوامر دَ پاره دَ تشجیع دَ دعوت او ذکر دَ اته احوالو دَ قیامت دے تر اخرهٔ پورے۔ په دے (س۱۶) کښ دلیل عقلی دے په ذکر دَ خلق اول دَ انسان کوم چه په مخکښ ایت کښ ذکر کړے دے۔ او بیا دے کښ الله تعالیٰ خپل درے صفتونه ذکر کړے دی۔ اول بیدا کول دَ الله تعالیٰ انسان لره او په دے کښ هم اشاره ده زجر ته چه نفس او شیطان دے انسان ته وسوسے اچوی دَ هغے دَ وجے نه دے په ضد او عناد کښ اخته شی او تکذیب او انکار کوی۔ وسوسه دَ نفس دَ طرف نه دَ شر خبره وی چه بے اختیاره وی او صحیح حدیث کښ وارد دی چه دے امت ته الله تعالیٰ دَ وسوسو معافی کړے ده تر څو پورے چه په ژبه ئے نه وی ویلے یا عمل ئے ورباندے نه وی کړے۔ او وسوسے اچوونکی درے څیزونه دی یو نفس دَ انسان دے لکه سورة یوسف س۵۳ کښ دی۔ دویم شیطان جنی۔ دریم شیطان انسی دے او دا دواړه سورة الناس کښ ذکر دی۔ او وسوسه ډیر پټ څیز دے او الله تعالیٰ په هغے باندے عالم دے بل چا لره دَ هغے علم نیشته۔ دریم صفت اقربیت دَ الله تعالیٰ ونحن اقرب الیه قربت دَ الله تعالیٰ ښکاره معنیٰ ده لیکن دَ هغے په کیفیت باندے موږ نه پوهیږو دَ هغے تشبیه دَ مخلوق سره نیشته او نه ئے تاویل کوو او دا قربت دَ فوقیت دَ عرش سره منافات نه لری ځکه چه الله تعالیٰ په هرڅه باندے قادر دے۔ من حبل الورید دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته یعنی رګ چه ورید دے یا اضافت بیانیه دے او وریدان دوه رګونه دی دَ ستٓ دَ څنګ طرف او ګس طرف نه متصل دی دَ سر نه تر وتین رګ پورے (پاتے په بل مخ)

دے انسان ته او بیا یکښ هم

الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ

نی طرف او دَ گس طرف ته (ریو) ناست دے. نه اوباسی انسان دَ خُلے نه څه خبره

او وتین رگ دَ زړه دے چه دَ هغے په قطع کیدلو سره انسان مړ کیږی. نو وریدِ مفرد نه مراد جنس دے نو دواړو نه شامل دے یا هر یو ورید ترینه مراد دے ځکه مفرد یے ذکر کړے دے. بیا دَ دے دَ تخصیص وجه داده چه امام راغب په مفردات کښ لیکلی دی چه دا رګونه دَ روح دَ چلیدو رګونه دی نو مراد دَ دے دا دے چه الله تعالیٰ دَ روح نه هم زیات نزدے دے یا داوجه ده چه دا رګونه زړه سره تړلے شوے دی نو مراد دا چه دَ الله تعالیٰ قربت دَ انسان دَ زړه سره (چه محل دَ وسوسے دے) تعلق لری او اَقْرَبُ اسم تفضیل یے دَ دے وجے نه اویل چه که روح دَ انسان او که زړه دے خو دَ انسان اجزاء او دَ بدن تکړے په مینځ کښ حاجب (مانع) گرځی او دَ الله تعالیٰ قربت او علم ته هیڅ څیز مانع نیشته.

۱۷ په دے کښ ذکر کوی حال دَ کراماً کاتبین دَپاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت یعنی دَ دے ملائکو مقرر کیدل او عملونه لیکل دلیل دے چه الله تعالیٰ به ضرور ورځ دَ جزاء او دَ حساب قائمه وی - اِذْ لفظ په معنیٰ دَ اذکر دے نو دا مستقل کلام دے یا متعلق دے په اَقْرَبُ پورے حاصل دا چه ملائک چه تا سو باندے ناست دی دَ لیکلو دَ عملونو دَپاره دَ هغوی نه الله تعالیٰ زیات نزدے دے نو هغه دَ ملائکو لیکلو ته حاجت نه لری لیکن دا خو په انسانانو باندے دَ حجت قائم کولو دَپاره دی - يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ - کله چه یو څیز یا کلمه دَ چا دَ طرف نه راشی او بل څوک یے واخلی نو دے ته تلقی ویلے کیږی نو دا سے دوه ملائک دَ انسان کلمات، اقوال او اعمال چه دَ هغه نه صادر یږی نو دوی یے ځان سره محفوظ ساتی عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ قعید وزن دَ فعیل په مفرد او متعدد باندے یو شان ویلے کیږی یا په کلام کښ حذف دے یعنی عن الیمین قعید وعن الشمال قعید - او روایاتو سره ثابت شویدی چه دا دوه ملائک دَ ورځے او دوه دَ شپے وی او نی طرف باندے لیکونکے دَ نیکے او په گس طرف باندے لیکونکے دَ بد اعمالو وی او لیکونکے دَ حسناتو امین دے په لیکونکی دَ سیئاتو باندے او دوی ته کراماً کاتبین ملائک ویلے کیږی - قَعِيْدٌ نه مراد دَ دے لازم او ملگرے کیدل دی که ولاړ وی او که ناست وی صرف کیناستل ترینه مراد نه دی -

إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ

مګر دَ هغه په خوا کښې شته څوکے کوونکے تیار - او راغلے سختئ دَ مرګ

بِالْحَقِّ ۖ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ۚ

په رشتیا سره (نو وا به شی) دا هغه څیز دے چه ته دَ هغې نه تختیدلے. او پوکے به او کړیشی شپیلۍ کښې

سئلہ مخکښې تلق او دوه طرفونه ئے ذکر کړل اوس دَ هغوی تیاری ذکر کوی یعنی هیڅ وخت غافل نه وی. یَلْفِظُ لفظ په لغت کښې رمی (ویشتل) ته ویلے کیږی یعنی وینا چه دَ خولے نه اوباسی په خپل اختیار سره او په دے کښې اشاره ده چه کوم کلمات دَ خولے نه بے اختیاره اوځی نو دَ هغې لیکل نه کوی هغه معاف دی مِنْ قَوْلٍ صحیح دا ده چه اقوال او اعمال دواړه لیکی لیکن قول ئے خاص ذکر کړو ځکه چه په دے سورت کښې دَ منکرینو اقوال په باره دَ قیامت کښې ذکر شویدی په سٹ سٹ کښې نو په دے کښې زجر دے چه دا اقوال ستاسو لیکلے کیدیشی دَ پاره دَ حساب کولو. رَقِيبٌ عَتِيدٌ دا دواړه هم دَ مفرد او متعدد دَ پاره پوشان استعمالیږی پشان دَ قعید. رَقِيبٌ ساتونکی، څوکۍ کونکی ته ویلے کیږی او عَتِيدٌ تیار او حاضر ته ویلے کیږی یعنی په دغه ملائکو کښې دا صفتونه دی.

سئلہ ۱۹ په دے ایت کښې تخویف دے په ذکر دَ حالت دَ نزع سره. یعنی هر کله چه عملونه او لیکلے شی او عمر په ختمیدلو شی نو سختئ دَ مرګ په شورو شی نو دَ هغې نه غفلت نه دے پکار.

سَكْرَةُ الْمَوْتِ یعنی دَ مرګ په وخت دا سے سختی او تکلیف راځی چه انسان پشان دَ حالت دَ سکر (دَ نشے) وی خبرے ئے دَ اعتدال او اختیار نه بهر شی او صحیح حدایت کښې کښې وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم هم په وخت دَ نزع کښې فرمائیلی وو "لا اله الا الله ان للموت سکرات". او "اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ".

بِالْحَقِّ دا متعلق دے دَ جاءت سره او حق په معنیٰ دَ یقین سره دے یا متعلق دَ دے په سکرت پورے او مراد دَ حق نه امر واقعی دے.

ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ دا خطاب دے دَ ملائکو دَ طرف نه هر انسان ته په وخت دَ نزع کښې. تَحِيدُ دَ حیدة یا حیدودة نه ماخوذ دے او ریدل، ګګیدل په قصد او په نفرت کولو سره.

ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿۲۰﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا

دا ورځ دَ عذاب ده ۔ او راشي هر نفس دَ هغه سره به وي

سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿۲۱﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ

چلوونکے او گواهي کوونکے ۔ یقیناً ته وے په غفلت کښ دَ دے

هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ

ته نو لرے کره موږ ستا نه پرده ستا نو نظر ستا نن

۲۰ دَ دے ایت نه تر ۳۵ پورے تخویف اخروی تفصیلی دے چه په هغے کښ شپارس احوال ذکر کوی په ۲ ایت کښ دوه حالات ذکر دی۔

اول نُفِخَ فِي الصُّوْرِ۔ مراد دَ دے نه دویمه شپیلۍ ده چه دَ پاره دَ بعث بعد الموت ده۔

دویم يَوْمُ الْوَعِيْدِ یعنی الله تعالی وعده دَ عذاب کړیده دَ متکرینو سره په دے ورځ کښ او دا یو نوم دے دَ نوموتو دَ ورځ دَ قیامت نه۔

۲۱ په دے ایت کښ دوه حالتونه ذکر کوی اول دَ هر نفس راتلل میدان دَ حشر ته دویم هر یو نفس سره به سایق او شهید وی۔ مراد دَ دواړو نه ملائک دی چه یو به ئے میدان حشر او بیا مقام دَ جنت یا جهنم ته راولی۔ دَ جنتیانو سره به هم سایق وی چه دلالت کوی په هغے باندے سورة زمر ۷۳ او دَ جهنمیانو سره به هم وی لکه سورة زمر ۷۱ او طریقه دَ بوتللو دَ جهنمیانو په سورة رحمان ۴۱ کښ ده۔ او دویم ملک به ورباندے شهادت کوی۔

شهادت به دَ جنتیانو دَ پاره کوی دَ هغوی په نیکو عملونو او شهادت به په جهنمیانو باندے کوی دَ هغوی په ناکاره عملونو باندے۔

او سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ اگرچه مفرد دی لیکن مراد دَ دے نه جنس دے نو ډیر و ته هم شاملیږی۔ او بل قول دا دے چه مراد دَ سائق نه ملائک دی او مراد دَ شهید نه اعضاء دَ دوی دی یا عملونه دَ دوی دی یا هغه عملنامے چه لیکلے شوے ده۔

او كُلُّ نَفْسٍ ظاهر دلالت کوی چه دا ایت عام دے ټولو انسانانو ته۔ او دویم قول دا دے چه دا خاص دے په مشرکینو پورے۔

حَدِيدٌ ﴿۲۲﴾ وَقَالَ قَرِينُهُ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿۲۳﴾

تیز دے -	او اویه وائي ملګرے دَده	دا	هغه څيز دے چه ما سره دے تيار -

۲۲ په دے کښې هم دوه حالتونه ذکر کوی او کشف دَ غطاء (پرده لرے کول) دے او دوېم تيزيدل دَنظر دی - مِنْ هٰذَا اشاره ده مخکښې مجموعه حال ته يعنې پوکل دَ شپيلئ او سايق او شهيد سره ميدانِ حشر ته راتلل - او مراد دَ غفلت نه غفلت دے په سبب دَ محبت دَ دنيا دَ شهواتو سره په ارتکاب دَ ګناهونو سره نو ګنهګارو مؤمنانو ته هم شامل دے يا مراد دَ دے نه انکار کول دی نو خاص دے په کافرانو پورے - غطاءك مراد دَ دے نه هغه حالات دی چه منع کوونکی وؤ دَ ذکر دَ اخرت نه چه هغه جهل او محبت دَ دُنيا او شهوات نفسانيه دی او سبب دَ هغې غفلت وؤ لکه سورة کهف سلا کښې ذکر دی - فبصرك اليوم حَدِيدٌ - بصر دَ قلب مراد دے ځکه چه دَ غفلت محل زړه دے نو دَ غفلت په ازالے سره بصيرت دَ زړه راغے يا مراد دَ دے نه بصر دَ سترګو دے په مقابله دَ غطاء کښې يعنې په ورځ دَ قيامت په جزا او سزا دَ عملونو او ميزان وغيره ته دا سے نظر کوی چه هيڅ حاجب او مانع په مخ ته نه وی او ديته اشاره ده په سورة مريم ۳۸ کښې -

سوال :- په سورة طٰه ۱۲۴ او سورة اسراء ۹۷ کښې معلوميږی چه دَ قيامت په ورځ به دوی ړانده وی نو دَ دے ايت سره ئې تعارض معلوميږی ؟

جواب :- دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه دا په مختلفو اوقاتو باندے حمل دی بعض وخت به ړانده وی او بعض وخت به ئې نظر تيز وی - دويم جواب دا دے چه په هغه اياتونو کښې مراد دَ عمی نه عدم دليل او حجت دے يعنې بے دليله به وی -

۲۳ په دے ايت کښې بو حال ذکر کوی چه هغه شهادت دَ قرين دے او دَ اکثر مفسرينو په نيز مراد دَ دينه مقرر ملائک (کراماً کاتبين) دی چه هغوی به دَ هر چا عملنامے تيارے حاضرے کړی نو هٰذَا کښې اشاره ده عملنامه ليکلے شوے ته لَدَيَّ کښې اشاره ده چه دا زما سره امانت وؤ چه بل چا پکښې هيڅ خيانت نه دے کړے - او دَ بعض مفسرينو په قول کښې مراد دَ قرين نه شيطان دے لکه سورة زخرف ۳۶ او سورة حٰم سجده ۲۵ کښې او هٰذَا کښې اشاره ده دغه شخص (ګمراه کړے شوی ته) او عَتِيدٌ نه مراد دا دے چه شيطان په سبب دَ اغواء دَده تيار کړے دے وَه لره دَ جهنم دَ پاره -

أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ

(او به ویلې شي) اوغورځوئ په جهنم کښې هر کفر کوونکے عناد کوونکے منع کوونکے دَ خیر

مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ

دَ حد نه تیریدونکے شک والا هغه چه گرځولی دَ الله تعالی سره بل حقدار دَ بندګئ

فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا

نو واچوئ دَ دَه په عذاب سخت کښې ۔ او به وائي ملګرے دَ دَهٔ اے ربه زمونږ

۲۴ تا ۲۵ تا ۲۶ په دے ایاتونو کښې دوه حالتونه ذکر کړیدی ۱ القاء په جهنم کښې ۲ القاء په سخت عذاب کښې او دَ جهنمي شپږ صفاتِ قبیحه ئې ذکر کړے دی۔ اَلْقِيَا صیغه دَ تثنیه ئې ذکر کړیده په دے کښې څلور اقوال دی اول داچه دا دَ عربو محاوره ده چه یو ملګری ته په تثنیه سره خطاب کوی۔ دویم داچه دا تثنیه دَ تکرار دَپاره ده لکه په لفظ لبیک کښې یعنی اَلْقِ اَلْقِ۔ دریم داچه دوه ملائک دی سائق او شهید هغوی ته خطاب دے چه یو به ئې دَ سر نه او بل به ئې دَ خپو نه اونیسی لکه په سورة رحمان ۴۱ کښې دی۔ څلورم قول دادے چه دا مفرد صیغه ده اَلْقِيَا په اصل کښې الْقِيَن دے نون دَ تاکید خفیفه بدل شو په الف سره۔ اول سبب دَ جهنم کفر دے نو هغه ئې مخکښې ذکر کړو په كَفَّارٍ سره صیغه دَ مبالغې ئې ذکر کړیده یعنی دَ توحید، رسول، قیامت، قران، عقلی نقلی دلیلونو نه منکر دے۔
عَنِيدٍ یعنی دَ کفر سره ئې عناد یو ځائے شویدے چه سړے دَ پوهے نه دَ حق نه انکار کوی دَ وجے دَ حسد او بغض نه دَ اهلِ حق سره او دَ تکبر دَ وجے نه نو عناد کول ډیرو ګناهونو لره متضمن دے لکه انکار، حسد، تکبر، ازدراء دَ حق او اهل حق (سپک ګڼړل) او غیرت په باطل باندے۔ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ اشاره ده چه دا شخص ضال او مضل دواړه صفتونه لری الْخَيْرِ توحید، سنت، قران۔ انفاق دَ مال فی سبیل الله تعالیٰ او ټولو حقوقو واجبو ته شامل دے۔ مُعْتَدٍ کښې اشاره ده چه حقوق العباد هم ضائع کوی په ظلم کولو سره۔ مُّرِيبٍ دا لازمی او متعدی په دواړه معانی سره راځی پخپله شک کوونکے او نورو خلقو لره په شک کښې اچوی یعنی په شبهاتو اچولو او طعنونو کولو سره په اهلِ حق باندے۔
الَّذِي جَعَلَ دا صفت ئې مستقل ذکر کړو اشاره ده چه دا دَ ټولو قبائحو دَپاره اصل او منشاء ده۔ فَأَلْقِيَاهُ په دویم کرت ذکر کولو کښې اشاره ده ترقی دَ عذاب ته او په حرف دَ فاء سره ئې ذکر کړو اشاره ده چه تیر شوی صفتونه سبب دے دَپاره دَ عذابِ شدید۔

مَآ اَطْغَيْتُهٗ وَلٰكِنْ كَانَ فِىْ ضَلٰلٍۭ بَعِيْدٍ ﴿۲۷﴾ قَالَ

ما نه دے گمراه کړے ده لره لیکن دے وو په گمراهئ لرے کښ. او به وائی الله تعالیٰ

لَا تَخْتَصِمُوْا لَدَىَّ وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ بِالْوَعِيْدِ ﴿۲۸﴾

جګړے مه کوئ زما په مخکښ او حال دا چه مخکښ ښکاره کړے وو ما تاسو ته د عذاب.

مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۲۹﴾ ع

نشی بدلیدلے وینا زما په خوا کښ او نه یم ظلم والا په بندګانو باندے.

۲۷ په دے ایت کښ دوه حالتونه ذکر کوی ۱ انکار د قرین د گمراه کولو نه ۲ او گمراهی د دعه انسان. دلته د قرین نه مراد شیطان دے که تیر شوی ایت کښ د قرین نه مراد هم شیطان وی نو فرق دا دے چه هلته شیطان جنی مراد دے او په دے ایت کښ شیطان انسی مراد دے.

(حکمت) په تیر شوی ایت کښ وَقَالَ قَرِيْنُهٗ په واو عاطفه سره ذکر کړے وو ځکه چه هغه په وَجَاءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ باندے عطف وو او په دے ایت کښ عطف نه دے ذکر کړے اشاره ده چه دا کلام د پاره د جواب سوال دے یعنی گمراه انسان به اوائی چه اے ربه ځه خو ځے شیطان انسی گمراه کړے ووم لکه سورة صافات ۲۸ سبا ۳۱ ص ۶۰ کښ تیر شوی دی نو هغه قرین به د ځپلے صفائی جواب ورکوی. یعنی ما په دے انسان باندے زور نه دے کړے په گمراهئ کښ بلکه ما صرف دعوت ورکړے دے نو دے ځپل اختیار سره گمراه شوے دے لکه په سورة ابراهیم ۲۲ کښ دی.

۲۸ په دے کښ هم یو حال ذکر کوی معلومه شوه چه مخکښ د گمراهانو او د انسی جنی شیطانانو په مینځ کښ به په یو بل باندے دعوے کول وی نو الله تعالیٰ به هغوی لره منع کړی په دے قول سره چه لَا تَخْتَصِمُوْا. لَدَىَّ لفظ د لدیّ کښ اشاره ده چه دا مقام د جزا دے دلته جګړے کول هیڅ فائده نه ورکوی. وَقَدْ قَدَّمْتُ اِلَيْكُمْ دا اول علت دے د لَا تَخْتَصِمُوْا د پاره یعنی په واسطه د رسولانو او داعیانو د حق سره خبر د نه د عذاب ما ذرلیږلے وو تو ستاسو هیڅ عذر نه دے پاتے شوے بلکه په تاسو باندے حجت قائم کړے شوے دے.

۲۹ په دے ایت کښ هم دوه حالتونه ذکر کړے دی او دا علتونه د پاتے په بل مخ)

يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ

کومه ورځ چه اوبه وايو جهنم ته　　ایا ته ډک شوے　　او هغه به اوائی

هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿۳۰﴾ وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ

ایا څه زیات شته دے.　　او نزدے به کړے شی جنت　　متقیانو ته

هم دَ لا تختصموا دَپاره دی ۲۸ مایبدل القول یعنی ماچه کومه فیصله کړیده لکه په سورة صٓ ۸۵ کښ ده نو هغه په هیڅ طریقه سره نه بدلیږی نو ستاسو دَ جګړے هیڅ فائده نیشته.

لَدَیَّ متعلق دے دَ يُبَدَّلُ سره یا متعلق دے دَ قَوْلُ سره یعنی هغه قول چه زما دَ طرف نه مقرر دے. وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ یعنی ستاسو دَ اختصام هیڅ فائده نیشته ځکه چه زما په دربار کښ ظلم کول نیشته او اختصام خو دَ دے مقصد دَپاره وی چه حاکم په عدل سره فیصله اوکړی او الله تعالیٰ خو هروخت عدل کوونکے دے او دا په سورة آل عمران ۱۸۲ او سورة حج ۱۰ او سورة انفال ۵۱ او سورة فصلت ۴۶ کښ هم تیر شویدی.

سوال: لفظ دَ ظلام مبالغه ده یعنی ډیر ظلم کوونکے نه دے نو دَ دے نه خو دَ لګ ظلم نفی نه معلومیږی او حال دا چه الله تعالیٰ خو هیڅ ظلم نه کوی لکه سورة آل عمران ۱۰۸؟

جواب: په ډیرو وجوهو سره دے اول دا چه دا صیغه دَ مبالغے نه ده بلکه دا په معنیٰ دَ ذوظلم سره دے. دویمه دا چه هر صفت چه په جانب دَ الله تعالیٰ کښ وی نو هغه په مبالغے سره وی نو که چرے بالفرض ظلم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه موجود وے نو په مبالغے سره به وے نو دا په طریقه دَ فرض سره شو. دریمه دا چه عبید ئے جمع ذِکر کړی ده نو مراد دا چه په دے ډیرو بندګانو باندے که چرے ظلم کولے نو ډیر ظلمونه به ترینه جوړ شوے وے.

۳۰ په دے آیت کښ هم دَ تخویف اخروی نه دوه حالتونه ذکر کوی ۱ دَ جهنم دَ کیل ۲ طلب دَ زیاتی. يَوْمَ نَقُوْلُ یوم منصوب، ظرف دے دَ مَايُبَدَّلُ یا دَ ظلام دَپاره یا فعل ئے پټ دے یعنی "انذرهم" او یروه دوی لره. هَلِ امْتَلَأْتِ دا استفهام دَ تقریر او تحقیق دَپاره دے او پکښ خبر ورکول دی جهنمیانو ته په وسعت دَ جهنم سره چه دا څوک ګمان اونه کړی چه جهنم کښ دومره ډیر خلق به څنګه ځائیږی؟ او دا تپوس دَ جهنم، دَ وعدے دَ وجے نه دے چه هغه سورة ص ۸۵ سورة اعراف ۱۸ سورة هود ۱۱۹ او سورة سجده ۱۳ کښ شته دے. هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ بعض مفسرینو ویلے دی

غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿۳۱﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ

نه به وی لرے. | دا هغه څیزدے چه تاسو سره یې وعده کیده شی هر | تو به کوونکی د پاره

چه دا استفهام انکاری دے نواقرار شو په ډکیدلو باندے چه باقی ځائے نیشته او اکثر مفسرینو ویلے دی چه دا استفهام طلبی دے یعنی طلب د زیاتو خلقو کوی نو اشاره ده چه ډک شوے به نه وی نو اعتراض داکیدے شی چه وعده د الله تعالیٰ خو پوره نه شوه نوجواب ته په هغه حدیث صحیح کښ اشاره ده چه جهنم اوائی هل من مزید نو رب العزت به خپل قدم په هغې کښ کیدی نو بعض اجزا به د بعضو سره جوخت شی او اوبه وائی بس بس ستا په عزت اوکرم باندے قسم دے (او قدم په معنی ظاهری سره د الله تعالیٰ د پاره ثابت دے او کیفیت یې الله تعالیٰ ته معلوم دے تشبیه تمثیل او تاویل کول یې جائز نه دی او دا مذهب د سلف صالحینو دے) .

سلا د دے ایت نه تر ۳۵ پورے بشارت اخرویه دے په ذکر د اوو احوالو د جنت او پنځه صفاتو د اهل جنت سره . په دے ایت کښ دوه حالات د جنت ذکر دی ۱ ازلفت ۲ غیر بعید او یو صفت د جنتیانو ذکر دے .

اُزْلِفَتِ یعنی جنت به په میدان حشر کښ را نزدے کړے شی متقیانو ته دا د دوی د اکرام او د عزت د پاره ځکه چه دوی ته د مزل کولو تکلیف محسوس نه شی او الله تعالیٰ قادر دے چه جنت د یو ځائے نه بل ځائے ته نقل کړی دلته دویم قول قرطبی ذکر کړے چه مراد دا دے چه د دنیا په ژوند کښ د متقیانو زړونو ته جنت نزدے دے دوی د هغې د پاره محنت کوی لیکن دا قول د سوق د ایاتو نه مخالف دے سورة شعراء ۹۰ کښ تیر شویدی .

غَيْرَ بَعِيْدٍ مفعول مطلق دے د پاره د ازلفت په تقدیر د مصدر سره ازلافا غیر بعید یا حال دے د جنت نه او جنت په تاویل د مکان سره دے د دے وجے نه بعیدة یې نه دے ذکر کړے .

بیا لفظ د غیر بعید د تاکید د پاره دے یعنی که وهم اوکړے شی چه ازلاف (نزدیکت) به لګ وخت د پاره وی نو جواب اوشو چه دا ازلاف همیشه د پاره دے چه جنت به د دوی نه هیڅ وخت بعید نه وی .

حَفِيۡظٍ ﴿٣٢﴾ مَنۡ خَشِیَ الرَّحۡمٰنَ بِالۡغَيۡبِ وَجَآءَ

چه ساتنه کوؤنکے دے. هغه څوک چه ویره کوی دَ رحمان ذات نه په حالَت نه لیدلو کښ او راغلے وی

بِقَلۡبٍ مُّنِيۡبِۨ ﴿٣٣﴾ اۨدۡخُلُوۡهَا بِسَلٰمٍؕ ذٰلِكَ

په زړه حق ته گرځیدونکے (او به ویلے شی) داخل شئ جنت ته په سلامتیا سره - دا

٣٢ په دے کښ یو حال دَ جنت او دوه صفتونه دَ جنت والو ذکر دی. هٰذَا اشاره ده جنت ته په تاویل دَ مکان دَ نعمتونو. مَا تُوۡعَدُوۡنَ دا وعده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په قرآن کریم کښ په هغه آیاتونو کښ ذکر ده چه په تقویٰ سره جنت حاصلیږی او هغه ډیر آیتونه دی لکه سورة آل عمران ١٣٣ حجر ٤٥ دُخان ٥١ ذاریات ١٥ طور ١٧.

لِكُلِّ اَوَّابٍ دا بدل دے دَ للمتقین نه او په منځ کښ جمله معترضه ده یا دا متعلق دے په توعدون پورے او مَقولٌ لَهُمۡ مقدر دے یعنی په دا سے حال چه ویلے کیږی به دوی ته دا. اَوَّابٍ هغه څوک دے چه دَ گناه نه ئے توبه کړے وی لیکن چه ورته یاد شی نو بیا هم استغفار غواړی او تسبیح هم ډیره وائی. او په اختتام دَ هر مجلس کښ دا کلمه وائی سُبۡحَانَ اللهِ وَبِحَمۡدِهٖ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡتَغۡفِرُكَ وَاَتُوۡبُ اِلَيۡكَ. حَفِيۡظٍ حفاظت کوؤنکے دَ الله تعالیٰ دَ حقوقو او دَ اوامرو یا یاد ساتونکے دَ گناهونو خپلو دَپاره دَ دے چه استغفار تری نه کوی یا حفاظت کوؤنکے دَ عمر خپل چه خپل اوقات نه ضائع کوی.

٣٣ په دے کښ دَ متقیانو دوه صفتونه ذکر کوی. تیر شوی صفتونه عبادات لسانیه وو او دا صفتونه عبادات قلبیه دی، ١ خشیت ٢ انابت. مَنۡ خَشِیَ بدل دے یا صفت دے دَپاره دَ اواب یا مُبتدا حذف ده یا مُخبرفی دا حذف دے او جواب دَ مبتدا په روستو آیت کښ دے. خَشیت خاص دے دَ خوف نه ځکه چه خشیت کښ معنیٰ دَ تعظیم دَ مخشی عنه وی سره دَ خوف نه دَ دے وجے نه لفظ دَ الرَّحۡمٰن ئے ذکر کړو دَپاره دَ افادے دَ عظمتِ شان دَ هغهٔ. بِالۡغَيۡبِ حال دے دَ مفعول نه یعنی الله تعالیٰ ئے لیدلے نه دے بلکه دَ عقلی او نقلی او وحی دلیلونو په وجه سره په الله تعالیٰ باندے ایمان لری یا حال دے دَ فاعل نه یعنی په حالت دَ خلوت کښ هم دَ الله تعالیٰ نه خشیت کوی لکه چه دَ خلقو په مخکښ هم کوی یعنی منافقت نه کوی. وَجَآءَ بِقَلۡبٍ مُّنِيۡبٍ هر کله چه خشیت تختیدلو لره مستلزم دے نو وهم راغے چه دا بنده دَ ویرے دَ وجے دَ الله تعالیٰ نه تیختنه کوی نو ورپسے ئے دَ وهم دَ دفع کولو دَپاره دا صفت ذکر کړو.

يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾ لَهُمْ مَّا يَشَاءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا

ورځ دَ هميش والی ده . دوی لره به هغه څه وی چه دوی غواړی په هغې کښې او زمونږ سره شته

مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ

زیاتی . او ډیر هلاک کړے دی موږ دَ دوی نه مخکښې ڼسیرے

وَجَآءَ ؕ اه اشاره ده چه خشيت دَ الله تعالیٰ مستلزم دے رجوع الی الله لره - او مراد دَ جَآءَ توجه کول دی الله تعالیٰ ته په دنيا کښې او بعض مفسرينو دا صفت روستو دَ مرګ نه ويلے دے ليکن هغه مناسب نه دے - مُنِيبٍ چه دَ ضد او عناد نه خالی وی او مخلص طلب ګار دَ حق وی نو منيب دے - اوسليم چه سورة صافات ۸۴ کښې ذکر شوے دے په صفت دَ ابراهيم عليه السلام کښې هغه مرتبه دَ منيب نه اوچته ده چه هغه دا سے زړه دے چه دَ توجه او دَ شغل لغيرالله نه بالکل خالی دے -

۳۴ دا بشارت دے په دوه حالتونو سره تير شوی صفتونو والو ته - ادْخُلُوْهَا دلته يقال لهم (او په ويلے شی دوی ته) پټ دے يا حرف ندا دَ مَنْ خَشِيَ نه مخکښې پټ دے او دا مقصود بالنداء دے . بِسَلٰمٍ سلامتيا دَ عذابونو او هر قسم غمونو نه او سلام ويل دَ طرف دَ الله تعالیٰ او ملائکو نه دے ټولو ته دا لفظ شامل دے . يَوْمُ الْخُلُوْدِ مراد دا دے چه دا سے ورځ ده چه په هغې کښې هميش والے حاصليږی -

۳۵ په دے ايت کښې هم بشارت دے په ذکر دَ دوه حالتو نو سره فِيْهَا متعلق دے په يشاءون پورے او مشيئت او اشتها کانے په جنت کښې دَ دنيا په نسبت به ډيرے وی . يا متعلق دے په لَهُمْ پورے يعنی په جنت کښې به ټول مشتهيات او شوقونه پوره کيږی -

وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ لفظ دَ لدينا دليل دے چه دا جنتيان په هغه نعمتونو باندے دَ ړو الله نه خبر نه دی ځکه هغه خاص دَ الله تعالیٰ سره دی -

مَزِيْدٌ په معنیٰ دَ زيادت دے لکه سورة يونس ۲۶ کښې يا اسم مفعول دے يعنی هغه څيز چه زياتی کيږی په دَ دوی په تمنا کانو باندے مراد ترينه هغه نعمتونه دی چه دَ دوی په زړه کښې هم نه وی تير شوی او هغه ديدان دَ الله تعالیٰ دے په ډيرے اکرام او عزت سره لکه چه احاديثو مرفوعه کښې ذکر دے او دا رنګ خاص قسم حورے دی -

هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ ط

چه هغوی سخت وو د دوی نه په نیولو کښې نو ورننوتلی وو په ښارونو کښې

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ

آیا شته ده دے ځائے د تښتې. یقیناً په دے کښې فکرور نصیحت دے هغه چا لره

كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿۳۷﴾ وَ

چه هغه لره عقل وی یا ږدی غوږ او زړه ئې حاضر وی. او

۳۶ دا تخویف دینوی دے متعلق دے د ۱۲ سره. او د بشارت نه ئې روستو ذکر کړو مناسبت ئې دا دے چه تیرشوی صفات د متقینو په چا کښې نیشته نو هغوی په دنیا کښې هم تباه حاله دی. اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا قوت مالی اوبدنی او د هغې وجې نه په خلقو باندے ظلم کولو نه دا لفظ شامل دے او په دے کښې اشاره ده چه په مادی او دنیوی طاقتونو سره د عذاب د الله تعالیٰ نه بچ کیدل نشی کیدے. فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ تنقیب په اصل کښې سوری کول او په سرنگونو کښې داخلیدلو ته وئیلے کیږی مراد دا دے چه په دُنیا کښې کوټ په کوټ باندے په ډیرو ښارونو کښې د تجارتونو او مالونو د پاره گرځیدلے وو یا قسم قسم حیلے ئې لټولے وے د مرگ نه د بچ کیدلو د پاره سُرنگونه، تاخانے، مورچے ئې د ځان حفاظت د پاره جوړے کړے وے. هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ دا استفهام انکاری دے د پاره د ازالے د غفلت ئې ذکر کړے دے یعنی د هغوی تنقیب فی البلاد سره هیڅ فائده اونشوه نو اے موجوده خلقو تاسو غافل نه شئ. مَحِيْصٍ ځائے د تختیدلو د مرگ نه، نو ظرف دے یا تختیدل نو مصدر میمی دے او جواب ئې په لفظ د لا سره پټ دے.

۳۷ په دے آیت کښې ترغیب دے قرآن ته او دے سورت ته ځکه چه ذٰلِكَ اشاره ده ټول قرآن ته یا هغه مضمون ته چه په دے سورت کښې ذکر شوی دے یا اشاره ده من قرآن ته.

ربط هرکله چه تیرشوی آیت کښې هلاکت د اقوام مکذبه ته ئې اشاره اوکړه نو په دے آیت کښې د هغه قومونو د واقعاتو نه ذکرٰی (عبرت) حاصلولو د پاره طریقه ذکر کوی. اوله طریقه لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ، تنکیر د پاره د تعظیم دے او مراد د قلب نه عقل دے په ذکر د محل او مراد ترینه حال دے او دا قرطبی د مجاهد نه روایت کړے دے یا مراد د دے نه ژوندے زړه دے لکه سورة یٰس ۷۰ کښې د یحیٰی بن معاذ نه قرطبی نقل

لَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ

يقينًا پيدا كړي دي موږ اسمانونه او زمكه او هغه چه دَ دے په مينځ كښ دي په

سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿۳۸﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى

شپږ ورځے كښ او نه دے رسيدلے موږ ته هيڅ ستړے والے. نو صبر كوه په

كړے دي چه زړونه دوه قسمونه دي اول هغه زړه چه دَ دنيا دَ اشغالو او فكرونو نه ډك وي نو هر كله چه دَ اٰخرت خبره كار ورته مخے له راشي نو حيران شي چه څه اوكړم. او دويم هغه زړه چه دَ هيبتونو دَ اٰخرت نه ډك وي نو كله چه ورته دَ دنيا څه كار مخے له راشي نو نه پوهيږي چه څه اوكړم دَ ډيرے دَ شغل نه په اٰخرت باندے. نو په دے اٰيت كښ دا دويم قسم زړه مراد دے. اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ دا دويمه طريقه ده غوږ كيخودل په داسے طريقه سره چه بل څه خبره په هغے باندے نه اوري ديته القاء السمع وائي گويا چه دَ قراٰن اوريدل داسے دروند او لوئے كاركنړي چه غوږ ئے ورله خكته غوړځولے دے. وَهُوَ شَهِيْدٌ مراد دَ دے نه توجه دَ زړه ده ځكه چه صرف كيخودل دَ غوږ كافي نه دي تر څو پورے چه دَ زړه توجه نه وي.

فائده :- دَ قراٰن نه دَ وعظ او فائدے اغستلو دَپاره دوه درجے دي اوچته درجه دا ده چه انسان په قراٰن كښ تدبر او سوچ كوي "افلا يتدبرون القراٰن" - "افلم يدبروا القول" باندے عمل كوي. دويمه درجه دا ده چه څه په توجه دَ زړه سره دَ بل چا نه ئے اوري. اوله درجه دَ اجتهاد ده او دويمه درجه دَ اتباع ده ځكه چه دَ قراٰن اوريدل او دَ هغے اطاعت كول اتباع ده او دَ دے نه چه چا دَ تقليد اثبات كړيدے نو هغه دَ تقليد دَ معروف معنٰي نه جاهل دے يا تلبيس او تحريف كوي (العياذ بالله).

سـ۳۸ـ دا دليل عقلي دے دَ اثبات دَ قيامت دَپاره (ربط) يعني اول خو دَ قراٰن نه دَ ذكر او نصيحت اغستل دي او په هغے پسے دَ عقلي دليلونو دَ اسمان او زمكے نه استدلال كول دي او دا عطف دے په سـ۱۶ـ باندے فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ داسے په سورة فرقان سـ۵۹ـ السجده سـ۴ـ او اعراف سـ۵۴ـ يونس سـ۳ـ هود سـ۷ـ او حديد سـ۴ـ كښ ذكر شويدي په مقام دَ تفصيل دَ نعمتونو لكه سورة فرقان او مقام دَ اثبات قيامت لكه سورة السجده او دا سورت په دے كښ ئے ما بينهما او سره ذكر كړے دے او په نورو سورتونو كښ په ذكر دَ اسمانونو او زمكے باندے اكتفاء كړيده.

وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ په دے كښ رد دے په وهم دَ منكرينو دَ بعث بعد الموت باندے يعني دا وهم ئے نه كوي چه الله تعالٰى به په اول پيدائش باندے ستړے شوے وي (باقي په بل مخ)

مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ

هغه خبرو بانـدے چه دوی وائی او تسبیح وایه سره دَ حمد دَ رب ستا نه مخکښ دَ ختلو

الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ الَّيْلِ

دَ نمر نه او مخکښ دَ پټیدلو دَ نمر نه ۔ او دَ شپے نه

ستړے شوی نو دویم کرت پیدائیش نه شی کولے او دا رنګ رد دے دَ یهودیانو په قول بانـدے هغوی وائی چه الله تعالیٰ دَ اتوار دَ ورځے نه ترجمے ورځے پورے په پیدائیش کښ مشغول وؤ نو دَ خالی په ورځ ئے استراحت او آرام اوکړو او دا سے په سورة احقاف ۳۳ کښ هم تیر شویدی او په دے سورت ۱۶ کښ ذکر دی چه الله تعالیٰ په اول پیدائیش دَ مخلوق بانـدے ستړے شوے نه دے۔

۳۹ تا ۴۰ دَ دے نه تر آخره پورے پنځه اوامر ذکر کوی دَ پاره دَ تشجیع دَ دعوت کوؤنکی۔ په دے دوه آیاتونو کښ درے اوامر دی۔ په دے ترتیب کښ اشاره ده چه دَ داعی په ذمه بانـدے دعوت کول دی او هر کله چه په دعوت کښ رکاوټ پیدا شی نو بیا صبر کول او په بندګے دَ الله تعالیٰ کښ مشغولیدل دی او صبر او تسبیح حمد ذریعه ده دَ پاره دَ آسانتیا دَ دعوت کولو۔ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ دا عام دے قول دَ یهودیانو ته هم شامل دے کوم چه مخکښ ذکر شو او قول دَ منکرینو دَ بعث بعد الموت ته هم چه دَ سورت په ابتدا کښ ذکر شویدے او دا رنګ په نبی صلی الله علیه وسلم بانـدے طعنونه کول او هغه ته کنځل کول دے ټولو ته شامل دے۔ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ عمل کول په دے امر بانـدے په ډیرو طریقو سره دی اول سبحان الله وبحمده او سبحان الله والحمد لله په ژبه ویل دویم خلقو ته دَ دے بیان کول دریم مونځ کول۔ تسبیح کښ اشاره ده دَ صفاتو دَ نقصان نه الله تعالیٰ پاک ګڼړل او حمد کښ اشاره ده تمام صفتونه دَ کمال (چه الوهیت دے) الله تعالیٰ لره په عقیده کښ لرل۔ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ وخت دَ فجر او وخت دَ عصر ته اشاره ده دا دوه ئے مخکښ ذکر کړل دَ وجے دَ ډیر فضیلت او اهمیت دَ دے دواړو نه لکه چه ډیرو احادیثو صحیحه کښ دَ دے دواړو فضیلتونه ذکر دی او دا وختونه دَ اجتماع دَ ملائکو دَ شپے او دَ ورځے دی او دا وختونه دَ غفلت دَ خلقو دی په اول وخت کښ اشاره ده شکر دَ نعمت دَ الله تعالیٰ ته چه شپه په خیر سره تیره شوه دویم کښ اشاره ده چه ورځ هم اختتام ته رسیدونکے ده په خیر سره۔ او اشاره ده

فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ

تسبیح وایه دَهغه او روستو دَ سجدے کولو نه ۔ او غوږ کیږه هغه ورځ چه اواز به اوکړی

الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ يَّوْمَ يَسْمَعُوْنَ

اواز کوونکے دَ مکان نزدے نه هغه ورځ به دوی اوری

چه په طلوع دَ نمر سره وخت دَ موځ دَ صبا ختمیږی او دا رنګ په غروب سره وخت دَ موځ دَ مازیګر ختم شویدے۔ او په دویم ایت کښې امر په تسبیح سره په دوه وختونو کښې ذکر شویدے ۔اللیل او ادبار السجود ۔ نو مراد دَ اللیل نه وخت دَ ماښام او ماسخوتن دے او وخت دَ تهجد هم پکښې داخل دے او دا رنګ دَ شپے په هره حصّه کښې چه بیدارشی او دَ الله تعالیٰ تسبیح او حمد وائی هغه نه هم شامل دے۔ او مِنْ لفظ کښې اشاره ده چه دَ شپے څه حصه دَ خوب دَپاره صرف کول سنت دی۔ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ دَ اکثر صحابه او تابعینو نه روایت دے چه مراد دَ دے نه دوه رکعتونه سنت روستو دَ فرض دَ ماښام نه دی او ابن کثیر په دے کښې روایت مرفوع هم نقل کړیدے او دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه په هر فرض موځ پسے سبحان الله او الحمد لله او الله اکبر لوستل دی او په دیکښې روایات مختلف دی یو دا چه هره کلمه دَ دے نه دری دیرش کرته وئیل دی دویم دا چه اوله او دویمه هره یوه دری دیرش کرته او الله اکبر څلور دیرش کرته او دریمه دا چه هره یوه لس لس کرته وئیل ۔ هر روایت باندے عمل کول صحیح دی لیکن سنت دا دے چه فرض موځ پسے په دا وائی او چا چه دَ فرضو په ځائے په سنت موځ پسے اُویل او خیال کوی چه دا سنت طریقه ده نو دا بدعت کوونکے دے قول او طریقه دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ئے بدل کړل ۔ دریم قول دا دے چه مراد دے نه فرض موځ پسے سنت او نفل کول دی لیکن دَ هغے نه دَ فجر او دَ عصر موځ مستثنیٰ دے په سبب دَ صحیح احادیثو سره اَدْبَارَ په زوَر دَ الف سره جمع دَ دبر ده دَ هر څیز رو ستنے حصے ته وئیلے کیږی او دا رنګ هغه څیز چه روستو وی دَ یل څیز نه هغے ته هم وئیلے کیږی دلته پنا په درے وایه روایتونو باندے رو ستنے معنیٰ مراد ده۔

ف ۴۳ دا خلورم امر دے دا عی نه مراد تربیه انتظار دَ ورځ دَ قیامت دے دَپاره دَ حساب وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ مراد استماع نه انتظار کول دی یعنی دَ ورځ دَ قیامت انتظار اوکړه یا استماع په خپله معنیٰ ده یعنی غوږ کیږه حالاتو دَ هغه ورځ ته ریاتے په بل مخ)

الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ إِنَّا

چغه په رشتیا دا ورځ ده د راوتلو (د قبرونو نه). یقیناً

نَحْنُ نُحْيٖ وَنُمِيْتُ وَإِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿۴۳﴾ يَوْمَ

مونږ ژوندی کول او مړه کول کوو او خاص مونږ ته راګرځیدل د خلقو دی. په هغه ورځ

تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ذٰلِكَ حَشْرٌ

چه اوبه چوی زمکه د دوی نه منډے په وهی، دا راجمع کول دی

نو د یوم نه مخکښ احوال لفظ پټ دے او که یوم ظرف شی د پاره د استمع نو دا معنٰی مناسب نه ده. الْمُنَادِ مراد د دے نه اسرافیل یا جبرئیل یا بل ملک دے په اختلاف د روایاتو سره مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ یعنی هر انسان به دا آواز داسے آوری لکه چه هغه ته نزدے وی یَوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ د یَوْمَ يُنَادِ نه بدل دے او په دے سره دهم دفع کوی یعنی که وهم او کړیشی چه منادی خو به آواز د قریب نه کوی لیکن کیدیشی چه دا خلق د مرګ یا د غفلت د وجے نه نه آوری نو د دے جواب ئے او کړو. الصَّيْحَةَ نه مراد دویمه شپیلئ ده د پاره د بعث بعد الموت په قرینه د الْخُرُوْجِ سره. بِالْحَقِّ دا متعلق دے په الصیحه پورے یا متعلق دے په یسمعون پورے بنا په اول د الْحَقِّ نه مراد بعث بعد الموت دے او بنا په دویم د الْحَقِّ نه مراد یقین دے. يَوْمُ الْخُرُوْجِ هغه خروج چه په سلسله کښ ذکر کړے دۀ او دا نوم د ورځ د قیامت دے. او په دے آیاتو کښ د ورځ د قیامت څلور احوال ذکر کړے دی.

۴۳ په دے آیاتو کښ د قیامت نور څلور حالات ذکر کوی. او په دے کښ اثبات د قیامت دے یعنی په احیاء او اماتت باندے قادر دے نو په دوباره ژوندی کولو خو ضرور قادر دے.

يَوْمَ تَشَقَّقُ عَنْهُمْ دا تفصیل د حال د خروج دے او حدیث د مسلم کښ په فضیلت د نبی صلی الله علیه وسلم کښ ذکر دی چه زما نه د ټولو نه مخکښ زمکه اوچوی.

سِرَاعًا یعنی دا عی طرف ته به په منډه سره درځی لکه سورۃ ابراهیم ۴۳ سورۃ قمر ۸ او سورۃ معارج ۴۳ کښ دی.

عَلَيْنَا متعلق دے په یسیر پورے او مخکښ راوړے دے د پاره د تخصیص

عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿۴۴﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ

په موږ باندے اسان . موږ ښۀ پوهه يو په هغه خبرو باندے چه دوی وائی

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ قف فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ

او نه يۓ ته په دوی باندے زور کوونکے نو بيا نوه قران

مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿۴۵﴾ ع

هغه چاته چه ويره کوی دَ عذاب زما نه

۳ع ۱۷

يعنی خاص په الله تعالیٰ باندے اسان دے لکه سورة روم ۲۷ کښ ذکر دی .

۴۵ دا تسلی ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په دوه طريقو سره اول دا چه نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ يعنی دا منکرين چه انکار کوی ستا تکذيب کوی يا تا ته بدرد وينا کوی نو الله تعالیٰ ته دَ هغے خهٔ علم شته عذاب ورکولے شی ليکن ستا امتحان کوی . وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ جمله خبريه په خپله معنیٰ سره ده يعنی ته په دوی باندے زور نشے کولے چه ايمان راوړی او دا رنګ ته په جبر کولو سره مکلف خو نه يۓ نو دَ دوی په ايمان نه راوړلو سره په تا باندے ګناه نيشته - دا جمله انشائيه نه ده لکه بعض مفسرينو ويلے دی چه دَ دے معنیٰ دا ده چه جبر مکوه او بيا دا ايت يۓ منسوخ کړے دے دا قول صحيح نه دے .

فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ دا پنځم امر دے يعنی دَ داعی په ذمه باندے جبر کول خو نيشته ليکن دعوت او تبليغ دَ دهٔ ذمه واری ده . دَ دے نه مراد صرف تلاوت او قراءت دَ قرآن نه دے بلکه په قرآن بيانولو سره توحيد او دَ قيامت مسئلے واضح کول دی او دا تذکير په طريقه دَ دعوت تبليغ او درس وتدريس سره دے او دَ ذکر الٰهی لويه طريقه تذکير بالقرآن دے او دا امر په سورة انعام ۷۰ او سورة ذاريات ۵۵ سورة طور ۲۹ سورة اعلیٰ ۹ سورة الغاشيه ۲۱ کښ هم موجود دے .

معلومه شوه چه تذکير بالقرآن ډير لوئے عمل دے چه الله تعالیٰ په هغے خپل نبی لره بار بار مخاطب کړے دے .

مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ تخصيص دَ دے په اعتبار دَ فائدے اخستلو سره دے دا تقييدي قيد احترازی سره نه دے يعنی تذکير بالقرآن خو رپاتے په بل مخ)

عام دے که خوک تر ینه فائده اخلی اوکه نه اخلی لیکن هغه په تذکـیر
کښې مخکښې کول پکار دی چه په هغوی کښې انابت وی
او امید دَ استفادے وی لکه دَ سورة عبس
په ابتداء کښې دے ترتیب ته
اشاره ده۔
دَ قتاده نه روایت کړے شوے دے چه
هغه به ویل
" اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِمَّنْ يَّخَافُ وَعِيْدَكَ
وَيَرْجُوْا مَوْعُوْدَكَ يَا بَارُّ يَا رَحِيْمُ "
ختم شو تفسیر دَ سورة قٓ په فضل دَ الله تعالیٰ سره۔

سُوْرَۃُ الذّٰرِیٰتِ ۵۱ مَكِّيَّةٌ ۶۷ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۶۰ رُكُوْعَاتُهَا ۳

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۝۱ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ۝۲ فَالْجٰرِيٰتِ

قسم دے په هواگانو الوځوونکو په الوځولو سره بیا پورته کوونکې بوج لره بیا چلیدونکې

يُسْرًا ۝۳ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝۴ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ

په اسانه سره بیا تقسیم کوونکې کارونو لره یقینًا هغه چه تاسو سره یې وعده کیږي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الـــذاريات

ربط دَ دے سورۃ دَ مخکښ سره دادے چه په دیکښ دَ مخکښ نه ترقی ده په دیرو وجو سره اوله وجه داچه هلته کښ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ذکر کړے وو نو دلته اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ دے دا ترقی ده په دعوىٰ دَ بعث بعد الموت کښ. دویمه وجه، هغه سورت کښ وُو وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ او په دے سورت کښ فَفِرُّوْا اِلَى اللّٰهِ دے دا ترقی ده په دعوىٰ دَ توحید کښ. دریمه وجه هلته کښ خَلْق دَ انسان یې ذکر کړے دے او دلته حکمت دَ خلق دَ انسانانو ذکر دے. څلورمه وجه په هغه سورت کښ صرف دلیلونه وُو په اثبات دَ بعث باندے نو په دے کښ دَ دلیلونو سره شواهد هم دی. پنځمه وجه، هلته کښ ذکر دَ اقوام مکذبه وُو اجمالًا دلته دَ هغے نه دَ پنځو قومونو عذابونه یې ذکر کړل۔

دعوىٰ دَ دے سورت اثبات دَ بعث بعد الموت دے په ۵ کښ په ذکر دَ پنځه شواهدو او په عقلی دلیلونو او په ذکر دَ عذاب دَ پنځه قومونو سره۔ او دعوىٰ دَ توحید په ۵۰ ۵۵ ۵۷ کښ ده او اوۡ اسماء حسنىٰ ذکر کړے دی۔

خلاصه دَ سورت دا ده چه دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۲۳ پورې په یکښ پنځه شواهد دی او په میځ کښ دعوىٰ دَ سورت ده بیا پنځه حالات دَ مکذبینو په طریقه دَ زجر سره بیانوی بیا بشارت په ذکر دَ پنځه صفاتو دَ متقینو سره بیا درے عقلی دلیلونه چه په هغے کښ پنځه حالات ذکر دی او بیا قسم ذکر دے۔ دلیلونه او قسم دَ پاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت دی (تفسیر ۱ ۲ ۳ ۴ دا څلور قسمونه دی په طریقه دَ شواهدو ر پاتے په بل مخ)

لَصَادِقٌ ۝۵ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ۝۶ وَالسَّمَآءِ

ضرور رښتیا دے ۔ او یقیناً جزا ضرور واقع کیدونکے ده. او قسم دے په آسمان باندے

سره په روستو دعوی باندے او دا صفتونه ټول دَ هواګانو دی یعنی هواګانے ذورے وغیره الوزوی بیا دَ وریځو بوجونو پورته کوی بیا روانے وی په نرمئ سره بیا تقسیمونکی دَ وریځو او دَ بارانونو وی پکښ توجیه باندے موصوف یو دے چه هواګانے دی او صفتونه ئے ډیر دی او فَا دَ پاره دَ ترتیب دَ دے کارونو ده یا دا صفتونه دَ موصوفانو جدا جدا دی یعنی ذَّارِيَاتِ صفت دَ هواګانو دے او حَامِلَاتِ صفت، دَ وریځو دے او جَارِيَاتِ صفت دَ کشتو دے او مُقَسِّمَاتِ صفت دَ ملائکو دے او دا روایت کړے شوید ے دَ علی او عمر رضی الله عنهما نه لکه چه ابن کثیر ذکر کړے دی او بنا په دے تفسیر باندے فَا دَ پاره دَ ترتیب ده په قسم کښ نه په مقسم به کښ- او ذَرْوًا مفعول مطلق دے او وِقْرًا مفعول به دے او جمع ئے ذکر نه کړه ځکه یو جماعت بوج دَ وریځو پورته کوی یو بوج دَ باران او يُسْرًا مفعول مطلق دے په موصوف محذوف سره یعنی جَرْیًا يُسْرًا۔ او اَمْرًا مفعول به دے او دَ مفرد راوړلو وجه ئے په وقرا کښ ذکر شوه ۔

فائده ۱:- په سورة صافات او نازعات او مرسلات او په دے سورت کښ په قسم کښ دَ جمع سالم مؤنث صیغے ذکر کړے دی ځکه دَ دے نه مراد مختلف حالات دی او جمع مؤنث په حالتونو باندے ښکاره دلالت کوی ۔

۵ - ۶ دا جواب قسم او دعوی دَ سورت ده - مَآ یا موصوله دے یا مصدریه دے او مراد دَ دے نه خروج دے دَ قبرونو نه چه دَ هغے وعده په سورة قٓ کښ ذکر شویده او وعده په جمله خبریه سره وه دَ دے وجے نه دَ هغے وصف ئے صادق ذکر کړو ځکه چه صدق او کذب په اخبارو کښ راځی - وَاِنَّ الدِّيْنَ یعنی صدق دَ وعدے ۔ بعث بعد الموت دَ پاره دَ جزا ورکولو دے دَ دے وجے نه وروستو وقوع دَ جزا ئے ذکر کړه - او مناسبت دَ مقسم به دَ جواب قسم سره دا دے لکه څه رنګ چه الله تعالیٰ په ذریعه دَ هواګانو دورے خورے کړی او بیا ترینه وریځے جوړے کړی او بیا ئے په مینځ دَ آسمان او زمکه کښ روانے کړی او بیا ئے دَ باران په صورت کښ زمکے ته واپس راولیږی دا رنګ الله تعالیٰ قادر دے چه دا انسانان ذرے ذرے کړی او بیا ئے راجمع کړی او ارواح ورته په آسانتیا سره راولی او جزا او سزا ورباندے تقسیم کړی - یا دا چه هغه ذات چه دَ هواګانو او وریځو او کیشتو او ملائکو نه مختلف

ذَاتِ الْحُبُكِ ⑦ اِنَّكُمْ لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ⑧ يُّؤْفَكُ

چه ګنړو ستورو والا دے	يقيناً تاسو په خبره مختلفه کښې يئ		اړولے شي

کارونه اخلی نو هغه قادر دے چه دَ انسان نه مختلف کارونه په دنيا کښې واخلی او په اخرت کښې مختلفې جزاګانې ورکړی.

ے دا پنځم قسم بطور شاهد دے دا ئې دَ مخکښې قسمونو نه جدا ذکر کړو ځکه دَ دے مقسم بها جدا دے دَ هغې مقسم بها نه او دا رنګ هغه کائنات عالم وسطی او سفلی څیزونه وو (رسيوا دَ مقسمات نه په يو تفسير باندے) او دا عالم علوی دے. اَلْحُبُكِ حبک مضبوط او وَل ته وائی چه خائسته او صفا هم وی او مختلف کرخې پکښې وی نو هغې ته وئيلے کيږی نو دلته هم دَ اسمانونو مضبوطوالے او صفائی او په ستورو سره خائسته کيدل او دَ هغې په وجه سره لارے جوړيدل په اسمان کښې دا ټول صفتونه مراد دی. په دليل دَ سبعًا شدادًا سورة نبا سـ۱۲ سبع طرائق مؤمنون سـ۱۷ اِنَّا زَيَّنَّا السماء بزينة ن الكواكب صافات سـ۶ ماتری فی خلق الرحمٰن من تفاوت سوره ملك سـ۳. بيا دَ دے جواب قسم محذوف دے (لَتُخْرَجُنَّ مِنَ الْقُبُوْرِ) لکه چه اسمان کښې مختلف ستوری پټ وی او بيا ښکاره شی نو دا سے به تاسو هم په زمکه کښې پټ شئ نو بيا به په ورځ دَ قيامت را ښکاره شئ يا جواب قسم روستو دے.

ﮯ غوره داده چه دا جواب قسم دے او دَ دے ايت نه دَ منکرينو بنځه قبائح ذکر کوی په طريقه دَ زجر ورکولو سره. قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ په باره دَ قرآن او دَ رسول او دَ قيامت کښې او دَ الله تعالىٰ کښې دَ هريو باره کښې دَ منکرينو ګډے وډے خبرے دی. دَ قرآن په باره کښې وئيلے کيږی چه دا سحر دے يا کهانت دے يا شعر دے يا افتراء ده يا ګډے وډے خوبونه يا اساطير وغيره دی هم دغسے دَ نبی صلی الله عليه وسلم په شان کښې اختلاف ساتل چه دا ساحر يا کاهن يا مجنون يا شاعر يا مفتری او کذاب وغيره دے دا رنګ دَ قيامت په باره کښې اختلاف دے چه دا اساطير الاولين دی يا دَ عقل نه لرے ده وغيره دَ الله تعالىٰ په شان کښې اختلاف چه دَ هغه شريک شته دے يا ولد شته دے يا وَلِیٌّ مِنَ الذُّلِّ شته دے يا ټول حاجات نشی پوره کولے يا شفعاء ورباندے زور اور دی. يائې ملائک لونړه دی يا ورسره جنّات شريک دی وغيره خو دا ټولے ګډوډے خبرے دی دَ منکرينو. دَ قسم او جواب قسم مناسبت دا دے چه دَ اسمان مضبوط والے او خائست شاهد دے چه دَ دے جوړوونکے (الله تعالىٰ) (پاتے په بل مخ)

عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ﴿٩﴾ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴿١٠﴾ الَّذِيْنَ

دَ دے نه هغه څوک چه اړولے شو ۔ تباه کړے شو په توک خبره کوونکی هغه کسان

هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ﴿١١﴾ يَسْـَٔلُوْنَ اَيَّانَ

چه دوی په جهل کښ غافل دی تپوس کوی چه کله به وی

قادر او عالم دے په هر څیز باندے نو دهغه په خلاف کښ ستاسو اقوال باطل او کمزوری دی یا لکه څنګه چه ستوری دَ اسمان مختلف دی او دَ اسمان او دَ ستورو په باره کښ دَ خلقو اختلاف دے بغیر دَ دلیل نه لکه څوک وائی اسمان دَ او سپنے نه جوړ دے څوک وائی دَ تلنبے وغیره څوک وائی ستوری دَ فلانکی څیز نه جوړ دی یا دَ فلانی څیز نه څوک وائی فلانے ستورے سپیره دے او فلانے نیک بخت دے وغیره نو دا ټولے بے دلیله خبرے دی۔ دا رنګ ستاسو په اقوالو کښ هم چه بے دلیله دی اختلاف دے۔

سه دا هم زجر دے مراد دَ دے نه ګمراهان مقلدین دی چه دَ ګمراهانو مشرانو دَ مختلف اقوالو په وجه سره دَ حق نه اوړیږی لے شی هر کله چه مقلدین ځان بے اختیاره کړے دے دَ دے وجه نه مجهول صیغه ئے ذکر کړیده او عَنْهُ ضمیر قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ته راجع دے یل قول دا دے چه مراد دَ دے نه اهل ایمان دی چه هغوی دَ دے اختلاف نه بچ ساتلے شوے دی خو اول قول غوره دے۔

سنا دا هم زجر دے۔ قُتِلَ او قاتل په معنیٰ دَ لعنت او تباهئ سره هم مستعملیږی لکه سورة عبس سک او سورة توبه ستا کښ او دا جمله خبریه یا جمله دُعائیه ده په دُعا دَ شر سره۔ اَلْخَرّٰصُوْنَ مراد دَ دے نه هغه خلق دی چه "قول مختلف" کښ دی بے دلیله مشغول دی۔ او دا لفظ دَ خرص نه اخستلے شویدے په اټکل سره (بغیر دَ دلیل نه) خبره او فیصله کولو ته ویلے کیږی۔ یعنی دَ الله تعالی او دَ قیامت او دَ قران او رسول په باره کښ دَ دے متکرینو اقوال په اټکل باندے بنا دی او قرطبی ویلے دی چه په دیکښ نجومیان هم داخل دی چه دَ اسمان دَ ستورو په باره کښ بے دلیله خبرے کوی او دَ هغے تاثیر ثابتوی۔

سلا دا یل زجر دے او تعریف دے دَ خراصون دَ پاره۔ غَمْرَةٍ هغه جهل ته ویلے کیږی چه عقل لره پټ کړی۔ سَاهُوْنَ مراد دَ سهو نه غفلت او په باطلو خبرو او کارونو

يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۲﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

ورځ دَ جزا - هغه ورځ چه دوی په اور باندے او سوځولے شی -

ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ۭ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ

او څکئ عذاب دَ سوزش خپل دا هغه څیز دے چه تاسو په دا

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ

په تادئ سره غوختلو - یقینًا متقیان به په جنتونو کښ او

عُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ۭ

چینو کښ وی اخلی به هغه نعمتونه چه ورکوی دوی ته رب دَ دوی

کښ مشغولتیا ده لکه سورۃ مؤمنون ۲۳ او سورۃ ماعون ۵ کښ دی -

۱۲ دا بل زجر دے او دا اثر دَ غمرۃ او دَ سهو دے - يَسْـَٔلُوْنَ دا سوال په طریقه دَ تکذیب او دَ عناد سره دے - اَيَّانَ دَ هغه استفهام دَپاره استعمالیږی چه په هغے کښ بُعد (لرے والے) وی یعنی انکاروی -

۱۳ ۱۴ يَوْمَ ظرف دے دَ فعل محذوف دَپاره او دا جواب دَ مخکښ سوال (په ایان سره) دے یعنی دوی تپوس کوی کله به واقع کیږی جواب دا دے چه واقع به شی په هغه ورځ چه دوی له به په اور کښ عذاب ورکیدے شی دَ دوی سوال عنادی وو نو جواب ئے هم زجری او شو - یا یوم ظرف دے دَ روستو فعل دَپاره چه ذُوْقُوْا دے - يُفْتَنُوْنَ ، فتن په اصل کښ ویلے کیږی دَ سرو زرو ویلے کولو ته په اور باندے مراد ترینه سوځول او عذاب ورکول دی. هٰذَا دا اشاره ده فتنه ته په تاویل دَ عذاب سره دَ دے وجے نه مذکر ئے ذکر کړے دے -

۱۵ ۱۶ دا بشارت دے روستو دَ تخویف او زجر نه - په بشارت کښ دے څیزونه او دَ متقیانو پنځه صفتونه ذکر کوی - اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ دا اجمالی بشارت دے ټول هغه نعمتونه دَ جنت ته شامل دی چه هغه دَ شمار نه بهر دی اٰخِذِيْنَ مراد دَ دے نه قبلولونکے په رضا سره او قبض کوونکے لګ لګ څکه دَ هغه نعمتونو انتهاء نیشته دے - دویم قول دا دے چه دا دَ متقینو دنیوی صفت دے یعنی اٰخذین نه مراد عمل کوونکی او دَ ما اٰتاهم نه مراد هغه (پاتے په بل مخ)

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾

يقيناً دوی دَ دے نه مخکښ دوؤ ښائسته عمل کوونکی ۔

كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾

دوؤ ډیر کم دَ شپې نه چه اوده کیدل به ۔

وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِي أَمْوَالِهِمْ

او په وخت دَ پیش منی کښ دوی بخښنه غوختله ۔ او دَدوی په مالونو کښ

فرائض او احکام دی چه الله تعالیٰ نازل کړے دی لیکن که دا توجیه صحیح وے نو روستو إِنَّهُمْ به ئې په عطف سره ذکر کړے وے ۔ مُحْسِنِينَ مراد دَ دے نه احسان په معامله دَ خالق او مخلوق دواړو کښ دے اول احسان اخلاص دے په بندګئ کښ لکه چه په حدیث جبرئیل کښ ذکر دے او اخلاص توحید قلبی عملی او قولی ټولو ته شامل دے دویم احسان عبادت په ښائسته طریقه سره اداکول یعنی موافق دَ سنت سره دریم احسان دَ مخلوق سره ښه معامله او ښه اخلاق چلول او هغوی ته دَ حق دین دعوت ورکول ۔ نو دا جامع صفت دَ متقیانو دے ۔ روستو دَ دے بعض جزئیات ذکر دی ۔

۱۷ ۱۸ ۱۹ په دے درے ایاتونو کښ دَ احسان بعض افراد ذکر کوی دَ دے دپاره نه ئې دَ عطف په طریقه سره نه دے ذکر کړے كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ الخ په دے کښ مشهور دوه قولونه دی اول قول دا دے چه مَا نافیه دے او مطلب ئې دا دے "چه په شپو کښ کمه شپه دا سے وه چه دوی به ټوله شپه اوده کیدل بلکه ډیرے شپې به ئې مونځ کوؤ او کله کله به ټوله شپه اوده پاتے شول" دا قول ابن کثیر دَ ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد او قتاده نه نقل کړے دے او په دے کښ دَ عام امتیانو دَ پاره من وجه سهولت دے او دویم قول دَ حسن بصری وغیره نه نقل کړے دے او ابن جریر هغه غوره کړے دے هغه دا دے چه مَا حرف زائده دے او مراد دَ دے نه دا دے "چه دَ شپې به په کمه حصه کښ اوده کیدل او په اکثره حصه دَ شپه کښ به ئې تهجد کول" او دا صفت ډیر اعلیٰ دے اګر چه په دے کښ دَ عام امت دَ پاره ګران والے دے ۔ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ په دے کښ اشاره ده چه تهجد ئې تر سحر پورے رسولے دی او دا رنګ دا

حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ۝١٩ وَفِي الْاَرْضِ اٰيٰتٌ

برخه دَ پاره دَ سوال کوؤنکی او سوال نه کوؤنکی (بې نصیبه) ده. او په زمکه کښ ډیر دلیلونه دی

لِّلْمُوْقِنِيْنَ ۝٢٠ وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ۭ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ۝٢١

دَپاره دَ یقین کوؤنکو او ستاسو په ځانونو کښ هم. ایا نو ویلے نه ګورئ.

اشاره ده چه دوی په خپل قیام اللیل باندے غرور نه دے کړے بلکه دَخپل قصور اوکوتاهے اقرار ئے کړے دے. اودا رنګ په سورة آل عمران ۱۷ کښ هم ذکر شوې دی. اَلْاَسْحَارِ جمع دَ سحر ده دَ شپے آخری شپږم حصے ته ویلے کیږی.
يَسْتَغْفِرُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه انسان هر څو مره بندګی دَ الله تعالیٰ کوی لیکن پوره حق دَ بندګئ نشی ادا کولے دَ دے وجے نه دَ عام عبادت په اختتام کښ استغفار ویل سنت دی لکه هر فرض مونځ پسے درے کرته استغفار ویل او دَ مجلس په اختتام کښ کفاره دَ مجلس دَپاره استغفار ویل نو دا رنګ دَ تهجد نه روستو استغفار ویل او دا دلیل دے چه استغفار ویل تعبّدا دے دا مستلزم دَګناه نه دے دَ دے وجے نه انبیاء علیهم السلام ډیر استغفار غوختلے دے.
وَفِيْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مخکښ صفتونه دَ احسان په حق دَ الله تعالیٰ کښ ذکر وو او دا صفت احسان دے په حق دَ مخلوق کښ او حَقٌّ عام دے که فرض او واجب وی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه یا دے انسان په ځان باندے لازم کړے وی نو زکوٰة او صدقاتِ واجبه او احسان دَ خپل خپلوانو سره وغیره ټه شامل دے لِلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ سائل هغه دے چه خپل حاجت خلقو ته ښکاره کوی او سوال کوی دَ وجے دَ ضرورت نه او محروم هغه دے چه خپل حاجت مخلوق ته نه ښکاره کوی او څوک دَ هغه په حال هم نه پوهیږی دَ دے دَپاره چه صدقه ورله ورکړی. بعضو ویلے دی چه سائل محتاج انسان ته وائی او محروم حیوانانو ته وائی او بعضو ویلے دی چه سائل صرف محتاج ته ویلے کیږی او محروم هغه ګے چه مصیبت ورته رسیدلے دے او مال ئے هلاک شوے دے. او سائل ئے مخکښ راوړو دَ دے وجے نه چه هغه له حق ورکول آسان دی دَ وجے دَ ښکاره کولو دَ حاجت نه یا دَ دَوجے نه چه انسان مقدم دے په حیوانانو باندے او سورة معارج ۲۴ کښ لفظ دَ معلوم ذکر دے نو هلته زکوٰة مراد دے چه دَ هغے مقدار معلوم او مقرر دے او په دے سورت کښ عام مراد دے.
۲۰-۲۱ لوس روستو دَ ذکر دَ فریقینو نه په باره دَ بعث بعد الموت کښ (پاتے په بل مخ)

وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ﴿۲۲﴾

او په اسمان کښې ستاسو رزق دے او هغه څيز دے چه تاسو سره ئې وعده کيدېشي .

دليلونه ذکر کوى دپاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت چه دعوىٰ دَ سورت ده او وړاندې په دے کښې اشاره ده چه صفتونه دَ متقينو (کوم چه مخکښې ذکر شول) هلته ضليري کله چه انسان په دنيا او په ځان کښې فکر اوکړى .اٰيٰتٌ غرونه ، دريابونه ، اونے ، ميوے ، بوټى کانړى ، سوکړه او بارانونه دا ټول دليلونه دى په قدرت دَ بعث بعد الموت باندے سره دَ توحيد نه .لِّلْمُوْقِنِيْنَ مراد دَ دے نه يقين حاصلوؤنکى دى يعنى په اراده دَ يقين او دَ اثبات سره دَ دے دليلونو نه فائده اغستلے شى يا مراد دا چه يقين ئې وى چه دا اٰيٰت الله تعالىٰ پيدا کړيدى نو هغه ترينه اثبات دَ بعث بعد الموت هم کولے شى.
وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ مراد دا دے چه دَ ابتداء دَ خلق دَ انسان نه تر انتها پورے او په ټولو باطنى او ظاهرى اندامونو او دَ هغې په ساخت کښې ډير دليلونه دى په اثبات دَ بعث بعد الموت او دَ توحيد باندے .دَ قتادة نه ابن کثير نقل کړيدى چه چا په ځان کښې فکر اوکړو نو پوهه به شى چه دے پيدا شويدے او دَ ده پيوندونه نرم کړے شويدى دَپاره دَ عبادت دَ الله تعالىٰ .اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ بصر او بصيرة دواړو ته شامل دے يعنى په سترګو سره دے اٰيٰاتو ته نظر اوکړئ او په زړه کښې په دے باندے سوچ اوکړئ .په اول کښې اٰفاقى سفلى دليلونو او په دويم کښې انفسى دليلونو ته اشاره ده .

۲۲ دا دليل علوى دے .مراد دَ رزق نه اسباب دَ روزئ دى او دَ سماء نه مراد اوچت طرف دے يعنى بارانونه وارول هواګانے وغيره دَ روزئ دَ پيدائش دپاره اسباب دى .يا مراد دا دے چه په اسمان کښې دَ الله تعالىٰ سره دَ هر چا روزى ده لکه وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِى الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا .سورة هود ۶ يا مراد دَ دے نه تقدير دَ روزئ دے .
وَمَا تُوْعَدُوْنَ يعنى هر خير او شر په اسمان کښې تقدير کړے شويدے يا مراد دَ دے نه جنت دے چه هغه په اسمان کښې دَ سدرة المنتهىٰ په خوا کښې دے لکه سورة نجم ۱۵ کښې دى .او کومه قصه دَ واصل الاحدب چه ابن کثير او قرطبى نقل کړيده نو هغه تفسير نه دے هغه يو خاص واقعه رشائى چه کرامت دے) ده دَ هغې ذکر کولو ته حاجت نيشته ځکه چه سره دَ تقدير دَ روزئ نه انسان مکلف دے په کسب کولو سره دَپاره دَ روزئ .

ع ۱ / ۱۸

فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ

پس قسم دے په رب دَ اسمان او زمکه باندے یقیناً دا خبره حقه ده پشان

مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ﴿۲۳﴾ هَلْ اَتٰىكَ حَدِيْثُ

دَ هغه چه تاسو خبرے کوئ . یقیناً راغلے دے تا ته خبر

ضَيْفِ اِبْرٰهِيْمَ الْمُكْرَمِيْنَ ﴿۲۴﴾ اِذْ دَخَلُوْا

دَ میلمنو دَ ابراهیم علیه السلام چه عزتمند وو . کله چه داخل شو

سلا۲۳ دا تاکید دے دَ پاره دَ اثبات دَ بعث بعدالموت او اِنَّهٗ ضمیر بعث ته راجع دے چه په دعویٰ دَ سورت (مَا تُوْعَدُوْنَ) کښ تیر شوید ے یعنی وعده دَ قیامت دا سے یقینی ده لکه چه تاسو خبرے دَ خُلے نه راوباسئ او یقین کوئ چه دا ستاسو دَ خُلے نه راوتلے دی دا توجیه ابن کثیر کړے ده - یا دا ضمیر رزق ته راجع دے یعنی کوم رزق چه انسان ته الله تعالیٰ په اسمان کښ مقرر کړے دے هغه به دے انسان ته یقیناً را رسیږی لکه چه ستاسو دَ خُلو نه خبرے او آواز را اوځی او په هغے باندے دَ خلقو یقین وی چه دا دَ فلانی دَ خُلے نه راوتلے دے ځکه په نورو حواسو کښ اشتباه کیدے شی او په خبرو راوتلو کښ دَ خُلے نه هیڅ اشتباه نیشته یا دا چه لکه هر انسان خبرے یخپله ژبه سره کوی دَ بل چا په ژبه خبرے نشی کولے نو دا رنګ مقرر رزق دَ هر انسان بل انسان نشی خوړلے دے به یئے خوری - او دا توجیه قرطبی وغیره نقل کړے ده - او دَ حسن بصری نه مرسل روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی چه تباه دِ کړی الله تعالیٰ هغه قومونه چه دوی ته خپل رب قسم خوړلے دے او بیا هم دوی تصدیق نه کوی بعض مفسرینو ضمیر دَ اِنَّهٗ قرآن ته راجع کړیدے لیکن دغه توجیه صحیح نه ده چه په هغے کښ تمثیل دَ کلام دَ الله تعالیٰ دَ نطق دَ مخلوق سره راځی او الله تعالیٰ او دَ هغه صفتونه دَ تمثیل او تشبیه دَ مخلوق نه پاک دی -

سلا۲۴ دَ دے آیت نه تر آخره دَ سورت پورے دویم باب دے په دے کښ دَ تخویف دنیوی پنځه نمونے ذکر کوی دَ واقعاتو دَ سابقینو نه - بیا پنځه احوال دَ یره خکته او دَ نورو ځیزونو په طریقه دَ دلیل سره ذکر کوی بیا دعویٰ دَ توحید او رد دَ شرک ذکر کوی بیا زجر دے په پنځه احوالو دَ مکذبینو او تسلّی ده (رپاتے په بل مخ)

عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ۚ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾

هغه ته نو اوويل يې سلام کوؤ مونږ سلام هغه اوويل چه په تاسو دې سلام وي قوم نا اشنا دی .

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته او ذکر دَ پنځه صفتونو دَ الله تعالىٰ دے په دے سټ کښې ذکر دَ واقعې دَ ابراهيم عليه السلام دے او دا تمهيد دے واقعې دَ لوط عليه السلام ته او دا سے په سورة هود او سورة حجر کښې هم ذکر شوې ده - او وجه دَ دے تمهيد ذکر کولو يوه دا ده چه کوم ملائک دَ قوم لوط دَ اهلاک دَپاره رالیږلے شوی وؤ هغه ملائک وؤ چه دَ ابراهيم عليه السّلام دَ بچی دَ زيری ورکولو دَپاره هم وؤ اشاره وه چه دغه ظالم قوم که چرے تباه کړے شی هيڅ پرواه مکوه دا يو بچے چه دَ الله تعالىٰ توحيد دَپاره دعوت ورکوی دَ هغه ټول قوم نه غوره دے دويمه وجه دا ده چه په يو قوم باندے عذاب دَ الله تعالىٰ رازی نو دَ هيڅ شخص اگر چه ابراهيم عليه السّلام وی په سفارش سره هغه عذاب نه واپس کيږی او نه دَ هغه شخص قدرت رسی چه په خپل زور سره دغه عذاب واپس کړی دريمه وجه دا چه په يو نيک شخص باندے دَ دُنيا خوشحالی او په ناکاره خلقو دَ الله تعالىٰ عذاب رازی نو دوی ترينه دَ مخکښې نه هيڅ خبر نه لری نا ګاهه رازی . هَلْ دا په معنیٰ دَ قد سره او په استفهام سره ذکر کوی دَپاره دَ توجه ورکولو دے قصے ته . ضَيْفِ اسم جمع ده يو او ګڼړو ته شامل دے روستنو صيغے دَ جمع دليل دی چه دا ملائک ډير وؤ او ضَيْف يې ورته دَ ابراهيم عليه السّلام په ګمان سره اوويل . اَلْمُكْرَمِيْنَ دَ دے ډيرے وجے دی يو خو دا چه دوی ملائک وؤ او ملائک دَ الله تعالىٰ په نيز مکرّم دی لکه سورة انبياء سټ کښې دی دويم دا چه ابراهيم عليه السلام دَ دوی خدمت په خپله کوؤ دريم دا چه طلب ګار حرصناک دَ خوراک نه دی .

سټ ۲۵ دا متعلق دے په حديث پورې او تفصيل دَ هغې دے . سَلٰمًا فعل حذف دے يعنی نُسَلِّمُ عَلَيْكَ سَلٰمًا .

سَلٰمٌ يعنی عَلَيْكُمْ سَلٰمٌ دا دواړه سلامونه دَ تحيه مسنونه دی بيا جمله اسميه کښې دوام او استمرار وی په نسبت دَ جمله فعليه سره نو جواب غوره شو دَ سلام نه نو معلومه شوه چه ابراهيم عليه السلام عمل کړے دے په فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَا باندے . قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ مبتدا يې حذف دے اَنْتُمْ که هغوی ته يې ښکاره ويلے وی يا هُمْ که دَ هغوی نه يې پټ ويلے وی . او هر که چه هغوی په نا اشنا

فَرَاغَ اِلٰٓى اَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِيْنٍ ﴿۲۶﴾ فَقَرَّبَهٗٓ

نو پټ روان شو کور والا ته نو را او ړوئے سخے وریت کړے شوے نو نژدے ئے کړو هغه

اِلَيْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ

دوی ته اوویل ئے ایا تاسو خوراک نه کوئے. نو په زړه کښې پټه اوساتله

خِيْفَةً ۭ قَالُوْا لَا تَخَفْ ۭ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ

ویره دَ دوی نه دوی اوویل مه ویریږه او زیرے ئے ورکړو په هلک

شکلونو کښې داخل شوی دی او بغیر دَ اجازت نه ورغلے وو او سلام ئے اوکړو او حال دا چه په هغه وخت کښې عام خلق دَ ابراهیم علیه السّلام مخالف وو هغوی په هغه باندے سلام هم نه کوو نو دَ دے وجو نه منکرون ئے او فرمائیل.

۲۶ ۲۷ په دے کښې آداب دَ میلمستیا دی اول دا چه زَرَ پروګرام دَ خوراک پکار دے حرف دَ فَا په دے باندے دلالت کوی دوئیم میلمه ته ښکاره کول نه دی پکار چه څه ستا دَ پاره دَ خوراک انتظام کووم کیدے شی چه هغه دَ حیا دَ وجے نه انکار اوکړی. درَیم په خوراک دَ میلمستیا تیارولو کښې هم مناسب تادی پکار ده فَجَآءَ حرف دَ فَا کښې دغے ته اشاره ده څلورم عمده او غوړه خوراک دَ طاقت مناسب پکار دے او دا تکلّف حسبِ استطاعت دَ میلمه دَ پاره سنت دے په عِجْلٍ کښې دغے ته اشاره ده او دَ دے وجے نه په اور باندے وریت کړو ځکه چه په دے طریقے سره غوښه زر تیاریږی دَ خوراک دَ پاره په نسبت دَ پخولو سره.

سَمِيْنٍ وریت کړے شوے لکه سورة هود ۶۹ کښې یا ئے معنیٰ خورب دے. پنځم، خوراک میلمه ته نزدے کیخودل پکار دی.

فَقَرَّبَهٗٓ کښې دے ته اشاره ده شپږم په امر سره میلمه ته وینا نه ده پکار ځکه چه دَ ادب نه خلاف ده دَ دے وجے نه اَلَا تَاْكُلُوْنَ ئے او فرمائیل او دا لفظ دَ پیش کولو دَ خوراک دَ پاره ویلے دے یا هرکله چه هغوی لاس نه نزدے کولو خوراک ته نو دا ئے ورته په طور دَ تپوس سره اُویل.

عَلِيۡمٍ ﴿۲۸﴾ فَاَقۡبَلَتِ امۡرَاَتُهٗ فِىۡ صَرَّةٍ فَصَكَّتۡ

علم والا - نو مخامخ شوه بی بی دَ هغه په چغه دَ ملائکو کښې نو په لاس ئې اووهلو

وَجۡهَهَا وَقَالَتۡ عَجُوۡزٌ عَقِيۡمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوۡا

مخ خپل او اوئيل ئې زه بوډئ شنډه يم - دوی اوئيل

سـ۲۸ اَوۡجَسَ دا دَ زړه حالت دے يعنی په زړه کښې ئې ويره راغله او د هغې سبب په سورة هود سـ۷ کښې ذکر دے ﴿قَالُوۡا لَا تَخَفۡ﴾ (سوال) ملائک خو دَ زړه په خبرو باندے علم نه لری نو څه رنگ هغوی پوهه شول؟ يو جواب دا دے چه ابراهيم عليه السلام ورته اُوئيل اِنَّا مِنۡكُمۡ وَجِلُوۡنَ (حجر سـ۵۲) او دويم دا چه دَ علاماتو نه هم په فِراست سره معلوميږی - وَبَشَّرُوۡهُ بِغُلٰمٍ عَلِيۡمٍ مراد دَ دے نه اسحاق عليه السلام دے.

عَلِيۡمٍ نه مراد دا دے چه دَ نبوت علم به لری او دا رنگ په سورة حجر سـ۵۳ کښې هم دی

سوال :- سورة هود سـ۷ کښې ئې نوم په بشارت کښې ذکر کړے دے او په دے دواړه سورتونو کښې نه دے ذکر کړے ؟

جواب :- په سورة هود کښې بشارت دے بی بی دَ ابراهيم عليه السلام ته ځکه زنانه تصريح دَ خيرے ته محتاج وی او په نوم دَ بچی باندے خوشحاليږی او دا رنگ په بقا دَ نسل سره ډيره خوشحاليږی دَ دے وجے نه دَ هغې په بشارت کښې ﴿وَمِنۡ وَّرَآءِ اِسۡحٰقَ يَعۡقُوۡبَ﴾ هم ذکر کړے دے او په دے دواړه سورتونو کښې بشارت دے ابراهيم عليه السلام ته او پلار په نوم نه خوشحاليږی بلکه دَ بچی په کمال دَ صفت باندے خوشحاليږی دَ دے وجے نه عَلِيۡمٍ ئې په صفت کښې ذکر کړيدے -

سـ۲۹ معلوميږی چه بی بی صاحبه دَ پردے نه شاته ولاړه وه دَ خدمت دَ پاره په دے خيال سره چه دا ميلمانه څوک اجنبی سړی دی هر کله چه بشارت ئې واوريدو او پوهه شوه چه دا ملائک دی نو بيا مخامخ شوه او دا سے دَ سورة هود سـ۷ نه هم معلوميږی چه دا ولاړه وه دَ پردے نه شاته او دَ قوم لوط دَ هلاکت زيرے ئې واوريدلو نو خوشحاله شوه نو بيا دَ ابراهيم عليه السلام دَ بشارت نه روستو ملائکو دے بی بی ته هم بشارت ورکړو نو بيا مخامخ راغله په ډير تعجب کولو کښې فِىۡ صَرَّةٍ يو معنیٰ دَ دے چغه ده

كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ

دغسې به يې ته ، وئيلې دي رب ستا يقيناً هغه حكمتونو والا

الْعَلِيْمُ ﴿۳۰﴾

پوهه دے په هرڅه باندے

دَ وجے دَ تعجب كولو نه بے اختياره بلَه معنیٰ جماعت دے نو مراد داد ے چه جماعت دَ ملائكو ته راغلامخ شوله" او صَرَّةٍ په معنیٰ دَ درېيمے سره خو ما په هيڅ تفسير او لغت دَ عربیٔ ژبه كښې نه دے ليدلے نو دا معنیٰ مناسب نه ده۔

فَصَكَّتْ وَجْهَهَا دا هم تعجب كولو په وخت كښې دَ زنانو عادت دے صَكّةٌ په پلن څيز باندے وهل". مراد دَ دے نه پلنۍ گوتے يا ورغوے دی او وَجْه نه مراد دَ مخ يو طرف دے يا تندے دے۔

وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ داسبب دَ تعجب دے او دارنگ حال دَ خاوند يې هم ذكر كړے دے په سورة هود سـ۷۲ كښې۔

هر كله چه سورة هود كښې مخاطبه دَ ملائكو دَ بی بی سره ذكر كړے شوے ده نو داسے شوله لكه خاوند چه غائب وی نو بی بی دَ هغه حالت ذكر كړو او په دے سورت كښې دَ دے سره مخاطبه دَ اول نه نيشته بلكه خاوند يې حاضر دے دَ هغه حال دَ بوډاوالی ښكاره دے ملائكو ته۔

عَقِيْمٌ دو مره عمر چه يو بنځه عادةً دَ اولاد دَ راوړلو نه عاجز شی دے ته عقيم ويلے كيږی او دارنگ چه دَ ابتداء نه اولاد نه وی شوے تر مرگ پورے نو هغے ته هم عقيم ويلے كيږی لكه سورة شوری سـ۵۰ كښې۔

سـ۳ دا تسلّی ده دَ پاره دَ تعجب دَ هغے بی بی۔ دلته يې قَالَ رَبُّكِ اُوئيل يعنی دا بشارت قول دَ رب ستا دے او سورة هود سـ۷۳ كښې دے ته يې امرالله ويلے دی دَ امر اطلاق په قول باندے واضح دے او په لفظ امر كښې تاكيد دے نو په سورة هود كښې هم تعجب دَ بی بی په ډير تاكيد او تفصيل سره ذكر كړے دے نو موافقت راغے۔

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿۳۱﴾

اوویل هغه څه لوئے کار دے ستاسو اے رالیږلے شوے ملائکو.

قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿۳۲﴾

دوی اوویل مونږ رالیږلے شوے یو قوم مجرمانو ته.

لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴿۳۳﴾

د دے دپاره چه را اولیږو په دوی باندے کانړی (جوړ شوی) د خټو نه

مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿۳۴﴾ فَأَخْرَجْنَا

نشاندار دی په نیز د رب ستا دپاره د حد نه تیریدونکو. نو اوویستل مونږ

۳۱ هر کله چه معلومه شوه ابراهیم علیه السلام ته چه دا ملائک دی او بشارت دپاره خو یو شخص هم پوره وو او دوی په دا ایسے کښې تلوار کوله نو تپوس کوی د هغوی د گرځولو او ډیر والی او د تلوارے کولو. خَطْب غټ او ډیر ضروری کار ته ویلے کیږی.

۳۲ ۳۳ ۳۴ په دے کښې غرض اصلی د هغوی د ارسال بیان شو چه هلاکول د مجرمانو دی او معلومه شوه چه زیرے ورکول د ځوئی د ابراهیم علیه السلام د دے په نسبت دروکے مقصد دے. مُجْرِمِيْنَ مجرم هغه څوک دی چه گناهونه بنکاره کوی د چا نه شرم او حیا نه کوی نو قوم لوط هم داسے وو. لِنُرْسِلَ تعبیر په ارسال سره دلالت کوی په ډیر والی د کانړو باندے مِنْ طِيْنٍ په دے کښې اشاره ده چه په دے کانړو کښې ماده د اور شامله وه ځکه چه د خټې نه کانړے په تیز اور سره جوړیدیشی او هغے ته ئے سورة هود او حجر کښې سجّيل ویلے دے۔ او په دے کښې ذکر د لوئے قدرت د الله تعالیٰ دے ځکه چه د آسمان د طرف نه گلئ رچه د اوبو نه کانړی جوړ شوے دی) راوریگی او د خټو جنس هم بره نیشته نو دا عظیم قدرت د الله تعالیٰ دے کنه!

مُسَوَّمَةً نښے ورباندے اشاره ده بل قدرت ته چه په اور سره نښے ورا نیږی او په دے کښې خو موجود دی او غوره دا ده چه نښو باندے د دوی نومونه لیکلے شوے وو. عِنْدَ رَبِّكَ اشاره ده تقدیر ته او دا رنگ اشاره ده چه دے نه د بندگانو لاس نه دی رسیدلی. لِلْمُسْرِفِيْنَ د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت

مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾ فَمَا وَجَدْنَا

هغه څوک چه په هغې کښې وو د ایمان والو نه نو او نه موندلو مونږ

فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا

په هغې کښې سیوا د یو کور د مسلمانانو نه . او پریخودو مونږ

فِيهَا آيَةً لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

په هغې کښې نښه د پاره د هغه خلقو چه ویره کوی د عذاب دردناک نه .

کړے شویدے چه مراد د دے نه مشرکان دی ځکه لوئے اسراف شرک کول دی او صیغه د اسم فاعل سره اشاره ده چه دوی که هلاک شوے نه وے نو هم د الله تعالیٰ په علم کښې وه چه دوی به همیشه اسراف او شرک کوی او اسراف اکثر پټ ګناه ته ویلے کیږی یا چه ګناه نه ګترلے کیږی. او اجرام ښکاره ګناه ته ویلے کیږی نو په وخت د ارسال د ملائکو ئے اجرام ذکر کړو او په وخت د عند ربک کښې اسراف ذکر کړو.

۳۵-۳۶ فا د پاره د روستو والی ده یعنی د ملائکو د لیږلو نه روستو مؤمنانو له ئے د هغه کلی نه اُویستل او عذاب د هغې نه روستو راغے او اخراج سره ئے صفت د ایمان ذکر کړو اشاره ده چه دا علت د نجات دے. فَمَا وَجَدْنَا دا لفظ دلالت کوی په ډیره مبالغه باندے ګویا چه ملائکو ډیر تفتیش اوکړو خو صرف یو کور د مسلمانانو ملاؤ شو. غَيْرَ بَيْتٍ مراد د دے نه کور د لوط علیه السلام دے د هغه ښځه هم تر ینه مستثنیٰ ده په قرینه د نورو ایاتونو سره چه (اِلَّا امرءته) باقی صرف دوه لونړه د هغه وے او هغه مسلمانانے وے لکه چه عام تفسیرونو دا روایت راوړے دے او خطیب شربینی ذکر کړے دی چه کورنۍ د لوط علیه السلام ته ئے مسلمین ځکه اُویل چه دا د ابراهیم السلام ورارۀ دے او هغه خپله کورنۍ ته د مسلمانانو نوم ایښے دے. فراء بغوی په تفسیر کښې ویلے دی چه د ایمان شرعی او اسلام شرعی د یو بل سره تلازم دے اګرچه معنیٰ ئے جُدا جُدا ده نو دے ایت کښې ئے د دے دوه یو کورنۍ ته مؤمنان او مسلمانان اُویل او د دے نور تحقیق سورة حجرات کښې تیر شویدے.

فائده :- د منکرینو دوه صفتونه ئے ذکر کړے وو مجرمین ، مسرفین نو د هغوی په مقابله کښې د مؤمنانو دوه صفتونه ئے لف نشر غیر مرتب سره ذکر کړل مومنین او مسلمین.

۳۷ مراد د ایت نه نښه د عبرت ده او هغه خراب شوی (پاتے په بل مخ)

وَفِیْ مُوْسٰٓی اِذْ اَرْسَلْنٰهُ اِلٰی فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ

(او نخښه) په واقعه دَ موسیٰ علیه السلام کښې. کوم وخت چه اولیږلو موږ دے فرعون ته په دلیل

مُّبِیْنٍ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلّٰی بِرُکْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٣٩﴾

ښکاره سره۔ نو اوګرځیدلو په وجه دَ طاقت خپل او اوئیل ئے جادوګر دے یا لیونے دے۔

فَاَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِی الْیَمِّ

نو اونیوؤ موږ دے او لښکرے دَ دهٔ نو او غورځول موږ دوی په دریاب کښې

وَهُوَ مُلِیْمٌ ﴿٤٠﴾ وَفِیْ عَادٍ اِذْ اَرْسَلْنَا عَلَیْهِمُ الرِّیْحَ

او دے وؤ ملامته کوونکے دَ خپل ځان. (او نخښه) په عادیانو کښې کله چه اولیږله موږ په دوی باندے سیلئ

کهنډرات دَ دوی دی یا بدبویونه او یا کاڼړی د ویشتلے شوی او دا سے په سورۃ عنکبوت ٣٥ کښې هم تیر شویدی او په هغه ایت کښې مِنْهَآ اٰیَةً بَیِّنَةً ئے ذکر کړے دے اشاره ده شیئے محسوس ته او په دے ایت کښې فِیْهَآ اٰیَةً ذکر دے اشاره ده شیئے معقول ته چه په ډیرے کولو سره عبرت دَ هغے نه اخستلے کیږی.

٣٨ ـ ٣٩ دا دویمه نمونه دَ عذاب دنیوی ذکر کوی او دا عطف دے په فِیْهَا باندے دَ ترکنا دَ لاندے دے. بِسُلْطٰنٍ مُّبِیْنٍ مراد دَ دے نه ټول معجزات دَ موسیٰ علیه السلام دی چه فرعون ته ئے پیش کړے وو په تاویل دَ جنس سره یا مراد ترینه معجزه دَ عصا ده. بِرُکْنِهٖ مراد دَ دے نه قوت دَ دهٔ دَ بادشاهئ او دَ لښکرو او دَ مال په حیثیت سره دے او با دَ سببیت دَپاره ده. یعنی په دے سبب سره ئے تکبر او عناد او کړو. یا مراد دَ دے نه قوم قبیله دَ دهٔ ده او با په معنیٰ دَ مع سره ده. سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ اَوْ په معنیٰ دَ تردّد او دَ شک سره دے یعنی دوی په دے حکم کولو کښې پخپله متردد وو. یا اَوْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے دَپاره دَ ترقئ په حکم کولو کښې. یا په معنیٰ دَ واو سره ځکه چه دوی دواړه حکمونه په موسیٰ علیه السلام باندے کړے وو چه ساحر دے لکه سورۃ اعراف ١٠٩ و شعراء ٣٤ او مجنون دے لکه سورۃ شعراء ٢٧ کښې.

٤٠ دا ښکاره دلیل دے چه فرعون ئے هم غرق کړے دے. فَنَبَذْنٰهُمْ دا لفظ دلالت کوی دَ دوی په توهین باندے. وَهُوَ مُلِیْمٌ تخصیص دَ فرعون ئے او کړو په ضمیر دَ هُوَ سره ځکه دے سبب وؤ دَپاره دَ ګمراهئ دَ خپلو لښکرو.

الْعَقِيمَ ﴿٤١﴾ مَا تَذَرُ مِن شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا

شنډه (بې برکته). نه پرېښودلو هغې هېڅ څيز چه راتللو په هغې باندې مګر

جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴿٤٢﴾ وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ

اوګرځولو ئې هغه په شان د هډوکي ذرې ذرې. (او نخښه) په ثمودیانو کښې کوم وخت چه اوېلې شو دوی ته

تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٤٣﴾ فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ

مزې واخلئ تر لږ وخت پورې. نو نافرماني ئې اوکړله د حکم د رب خپل نه

مُلِيمٌ يو معنیٰ دا چه دۀ کارونه د ملامتيا کړې وو تر مرګ پورې دويمه دا چه دۀ په هغه وخت کښې ځان لره ملامته کوۀ يعنې توبه ئې ويستله لکه سورة يونس ٩٠ کښې تېر شويدی ليکن هغه وخت توبه نه قبليدله. او دا لفظ چه په باره د يونس عليه السلام کښې په سورة صافات ١٤٢ کښې راغلی نو مراد دا دے چه هغه ځان لره ملامته کوۀ په تسبيح ويلو او اعتراف د ظلم سره اګرچه ظلم عند الله نه وو.

٤١ دا دريمه نمونه د عذاب دنيوی ذکر کوی وَفِي عَادٍ مراد دا دے چه د هغوی په هلاکولو کښې لوئے عبرت دے روستو خلقو لره. په أَرْسَلْنَا کښې اشاره ده ډېر والی او تيز والی د سيلئ ته. الْعَقِيمَ بې خيره سيلئ هغه ده چه اونو بوټو ته او انسانانو ته هيڅ فائده نه ورکوی او هغې ته بادِ دبور ويلې کيږی لکه چه صحيح حديث کښې وارد دی چه رسول الله صلى الله عليه وسلّم فرمائيلې دی چه ما سره امداد کړې شويدے (په احزاب کښې) په بادِ صبا سره او عاديان هلاک کړې شوی وو په بادِ د بور سره.

٤٢ په دے کښې تيزی او هيبتِ شان د هغه سيلئ ذکر کوی.

سوال :- دا سيلئ په غرونو کښتو وغيره باندې راغلې وه ليکن هغه ئې ذرې کړې نه دی ؟

جواب :- مراد د مِن شَيْءٍ نه هغه څيزونه دی چه الله تعالیٰ د هغې د هلاکولو اراده کړې ده يعنې بدنونه د عاديانو او د هغوی آبادئ او قصلونه وغيره او دا رنګ په احقاف ٢٥ کښې هم شته دے. الرَّمِيمِ بوټی چه اوچ شی او ذرې ذرې او سخا شی هغې ته په اصل کښې رميم ويلې کيږی دا رنګ هغه اډوکی چه زاړه شی او خاورې شی.

٤٣ دا څلورمه نمونه د عذاب دنيوی ده. تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ (پاتې په بل مخ)

فَأَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿۴۴﴾

نو اونیولو دوی لره سخته چغه او حال دا دے چه دوی کتل ۔

فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿۴۵﴾

نو وس ئے اونه لرلو دَ او دریدلو او نه وُو دوی بدله اخستونکی

وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۴۶﴾ ع

(هلاک کړی وُو موږ) قوم دَ نوح علیه السلام دَ دوی نه مخکښ یقیناً هغوی وُو قوم نا فرمان ۔

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِأَيْىدٍ وَّإِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿۴۷﴾

او اسمان جوړ کړیدلے موږ په طاقت سره او موږ فراخوؤنکی دَ هغے یو ۔

یو معنیٰ دا چه دَ نیتے دَ مرګ پورے دَ خپلو باغونو مالونو نه فائدے واخلئ او ایمان راوړئ۔ نو په دیکښ دعوت دے ایمان ته او دَ هغے دنیوی فائدو ته اشاره ده۔ دویمه معنیٰ دا ده چه په دوی بانګ فیصله اوشوه چه درے ورځے روستو به په دوی بانګ عذاب راځی لکه په سورة هود ۶۵ کښ۔ ۴۴ حرف دَ فا په فَعَتَوْا کښ دلالت کوی چه اوله معنیٰ غوره ده او دَ عتو (نا فرمانۍ) تفصیل په نورو سورتونو کښ تیر شویدے چه هغه اُوښه هلاکول او دَ صالح علیه السلام دَ قتل اراده کول دی. الصّٰعِقَةُ مراد دَدے نه سخته هیبت ناکه چغه وه چه سبب اوګرځیدلو دَ خوزیدلو دَ زمکے دَ پاره دَدے وجے نه سورة اعراف کښ دَ دوی عذاب په رجفه سره او په سورة هود کښ په صیحه سره ذکر کړے دے او ذکر دَ صاعقه دَ ثمود دا نو په سورة حٰم سجده ۱۷ کښ تیر شویدے۔ يَنْظُرُوْنَ مراد دَدے نه انتظار دے درے ورځے یا مراد دا چه دَ عذاب نښے به یو نو دَ دوی کښ راښکاره شوے او ورته ئے کتل۔

۴۵ په دے کښ سخت والی دَ عذاب ته اشاره ده ۔ قِيَامٍ او دریدل او تینګیدل دی یا طاقت دَ دفع کولو دے۔

۴۶ دا پنځمه نمونه دَ عذاب ده۔ او دَدے فعل حذف دے یعنی أَهْلَكْنَا قَوْمَ نُوْحٍ ۔ او فِیْ ورسره نه دے ذکر کړے ځکه چه دوی ډیر مخکښ وُو دے زمانه کښ دَ هغوی هیڅ مکان او نښے معلوم نه دی چه په هغے کښ نمونه دَ عبرت وی إِنَّهُمْ كَانُوْا دا ضمیر قوم دَ نوح علیه السلام یا تیر شوے ټولو قومونو مکذبینو ته راجع دے۔

۴۷ دَدے ایت نه درے عقلی دلیلونه ذکر کوی په اثبات دَ بعث بعد الموت بانګ

وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْ

او زمکه مونږ غوړولے ده نو ښهٔ غوړوونکی یو - او دَ

كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾

هر څیز نه پیدا کړیدی مونږ جوړے دے دَپاره چه نصیحت قبول کړئ تاسو -

په دے ایاتونو کښ په دے کښ یو دلیل دے علوی -

(ربط) دَ دے نه مخکښ ایاتونو کښ نقلی دلیلونه وو نو دا عقلی دلیلونه دی - بِاَیْدٍ دا مصدر دے په معنیٰ دَ قوت او دَ قدرت سره دا دَ عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه ابن کثیر او قرطبی روایت ذکر کړے دے او بل احتمال دا دے چه اَیْدٍ جمع دَ یَدٌ شی لکه سورة یٰسٓ سے کښ دی نو دا لفظ به دَ متشابهات نه شی او یا حذف شوی دَ وقف دَ وجے نه - وَاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ دَ وسع نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ قدرت واسعه سره دے نو دا اسم فاعل دے په معنیٰ دَ ذوکذا سره یعنی (ذُوْ وسْعٍ وَطَاقَةٍ) یا دَ وسعت متعدیه نه دے یعنی په مینځ دَ اسمان او زمکه کښ او دا رنګ الله تعالیٰ دَ اسمانونو په مینځ کښ ډیره فراخی پیدا کړے ده لکه چه حدیث صحیح کښ وارد دی چه دَ زمکے او اسمان او دَ یو اسمان نه تر بل اسمان پورے دَ پنځه پنځه سوه کالونو فاصله ده -

۴۸ دا دویم دلیل سفلی دے - فَرَشْنٰهَا یعنی زمکه داسے پیدا کړیده چه ډیره نرمه هم نه ده او ډیره سخته هم نه ده دَ پاره دَ دے چه مخلوق ترینه فائده واخلی. فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ دا بله فائده ده ته اشاره ده یعنی انسانان پکښ ارام کوی او دَ ارام ځایونه هم پکښ الله تعالیٰ جوړ کړیدی -

۴۹ دا دریم دلیل دے او وسطی دے یعنی چه الله تعالیٰ قادر دے په پیدا کولو دَ زوجیت دَ څیزونو نو قادر دے په دوباره ژوندی کولو باندے او دا رنګ هر کله چه هر څیز جوړے جوړے دے نو دَ دنیا دَ پاره هم جوړے پکار ده چه اخرت دے او دا رنګ چه هر کله مخلوق ټول زوج زوج دے نو معلومه شوه چه خالق فرد او یو دے ځکه چه الله تعالیٰ دَ مثل نه پاک دے - وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ حیوانانو نباتاتو کښ او په اوصافو او احوالو کښ او رنګونو او اوقاتو کښ زوجیت دے یعنی مذکر او مؤنث غنیٰ او فقر حسن او قبح ژوند او مرګ او تیاره رڼا او رِاتے په بل مخ)

فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ۚ ﴿۵۰﴾

نو او تختئ الله تعالیٰ ته یقیناً زهٔ تاسو لره دَ هغهٔ نه ویره درکوونکے یم ښکاره .

وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ؕ اِنِّیْ لَكُمْ مِّنْهُ

او مه جوړوئ دَ الله تعالیٰ سره حقدار دَ بندګئ بل یقیناً زهٔ تاسو لره دَ هغهٔ نه

نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ۚ ﴿۵۱﴾ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِیْنَ مِنْ

ویره درکوونکے یم ښکاره . دغسې نه راتلو هغه کسانو ته چه دَ

قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ

دوی نه مخکښې دوُ هیڅ رسول مګر دوی ویل جادوګر دے او

او شپه ورځ ، نر او سپوږمۍ ، صحت او بیماری ، اوچه او لونده (دریاب) سمه اوغر، ګرمی او یخنی، ایمان او کفر، سعادت او شقاوت، حق او باطل، خوږ او ترخ ، اسمان او زمکه، خیر او شر، جن او انس، صبا او بیګاه ، حرکت او سکون ، ښکته او بره، ابتداء او انتهاء، دُنیا او اٰخرت وغیره .

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ مراد دَ دے نه تذکر دَ قیامت دے او توحید دَ الله تعالیٰ په هغه طریقه چه مخکښې ذکر کړے شو.

سَه دا نتیجه ده دَ تیرشوی نقلی او عقلی دلیلونو او دا لفظ ډیرو معانیو ته شامل دے یعنی او تختئ دَ ماسوی الله نه الله تعالیٰ طرف ته او دَ ګناهونو نه طاعت دَ الله تعالیٰ ته، او دَ طاعت دَ شیطان نه طاعت دَ الله تعالیٰ ته، او دَ جهل نه علم ته او دَ بندګئ دَ غیر الله نه بندګئ دَ الله تعالیٰ ته.

او فَفِرُّوْٓا کښې اشاره ده چه شیطانی قوتونه ډیر دی دَ هغوی نه دَ بچ کیدلو دَپاره تختیدل ضروری دی په سُست رفتار باندے کار نه کیږی.

نَذِیْرٌ ویره ورکوونکے دَ فرار نه غیر الله نه ځکه چه په دے کښې عذاب دے.

سله اول ایت کښې اثبات دَ توحید دوُ او په دے کښې نفی دَ شرک ده او دا کمال توحید دے نَذِیْرٌ اول انذار دَ عذاب دَ دنیا نه دوُ او دا انذار دَ عذاب دَ اٰخرت نه دے یا اول انذار دَ مطلق عذاب نه وو او دا انذار دَ همیشه عذاب نه دے ځکه چه مشرک دَپاره عذاب همیشه دے .

مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾

لیونے دے۔ ایا دوی یو بل ته وصیت کړے دے پدے خبره باندے بلکه دوی قوم سرکش دی۔

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ وَّذَكِّرْ فَاِنَّ

نو مخ واړوه دَ دوی نه نو ته نه یے ملامته کړے شوے۔ او قران بیان کړه یقینًا

الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ وَمَا خَلَقْتُ

قران بیانول نفع ورکوی مؤمنانو ته۔ او نه دی پیدا کړی ما

۵۲ ۵۳ پدے ایاتونو کښې زجر دے منکرینو ته یعنی په امر (ففروا) او نهی (ولا تجعلوا) باندے دوی عمل نه کوی بلکه تکذیب کوی۔ مِنْ قَبْلِهِمْ پدے سورت کښې ذکر دَ فرعونیانو تیر شوی دے چه هغوی هم داسے تکذیب کړے وو۔ سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ اَوْ دَپاره دَ شک یا دَپاره دَ تفصیل دے خو بهر صورت دَ منکرینو په تناقض او جهل باندے دلالت کوی ځکه چه مجنون ساحر نشی کیدے۔

اِلَّا سوال :- دا دلالت کوی په حصر باندے یعنی مکذبینو سیوا دَ دے دَ دوه حکمونو نه نور هیڅ نه دی ویلے او حال دا چه هغوی خو په نورو طریقو او الفاظو سره هم تکذیب کړے دے لکه كَذَّابٌ اَشِرٌ او داسے نور؟

جواب :- دا دواړه لفظونه یئے په کثرت سره ویلے وو یا دا چه دا دواړه جامع دی هغه ټولو قبائحو لره چه دوی انبیاؤ ته نسبت کوؤ ځکه ساحر صفت ټولو فسادانو ته شامل دے او مجنون هغه احوالو ته عام دے چه دَ انسانیت نه پرے سړے بهر کیږی۔ اَتَوَاصَوْا بِهٖ یعنی یو شان حکم کول دَ مکذبینو دَ ټولو زمانو، یا دَ دے وجے نه دے چه دوی یو بل ته وصیت کړے دے یا دَ طغیان دَ وجے نه دے اوله خبره خو نیشته نو دویمه ثابته شوه او دا زجر شویدے دے۔

۵۴ ۵۵ دا تسلّی او تشجیع ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته۔ مراد دَ تَوَلَّ نه دا دے چه دَ دوی پرواه مه ساته که خبره منی او که نه منی فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ځکه تا خپله ذمه داری ادا کړے ده او ادا کوے یئے وَذَكِّرْ پدے سره اشاره ده چه دَ تَوَلَّ نه مراد پریښودل دَ دعوت نه دی۔ تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی دعوت او بیان کول دَ فائدے نه خالی نه دی دَ مُؤْمِنِيْنَ نه مراد هغه خلق دی چه اراده دَ ایمان لری په اعتبار دَ مَا يَؤُوْلُ اِلَيْهِ سره یا ایمان واله دی او دَ ایمان نفع ریلے په بل مخ)

الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ مَا أُرِيدُ

پېریان او انسانان مګر د دې دپاره چه زما بندګي اوکړي. زۀ نه غواړم

مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾

د دوی نه هیڅ روزي (ځان دپاره) او نه غواړم چه ماله خوراک راکړي.

داده چه په قرآن سره به ئې ایمان مضبوط شي او نور احکام متعلق د ایمان سره به ایزده کړي.

ف۵۶ د دې ربط د ذکر سره دے یعنی دوی ته تذکیر د حکمت د پیدائش د جن او انس ورکړه. إِلَّا لِيَعْبُدُونَ (سوال) هر کله چه عبادت د الله تعالیٰ په طریقه د توحید سره مراد شي د خلق جن او انس نو ډیر جن او انس خو توحید والا نه دي نو خلاف لازم شو د اراده د الله تعالیٰ نه نو ثابت شو مذهب د معتزلو او دا خلاف دے د ډیرو نصوصو نه؟

جواب:- په ډیرو طریقو سره اوله طریقه داده چه مراد د دے اقرار کول دي په بندګئ د الله تعالیٰ که په خوښه سره وي او که په زور سره وي نو کفار او مشرکین په حالت د کړه (زور) کښې اقرار د بندګئ د الله تعالیٰ کوي. دویمه طریقه داده چه مراد د دے نه امر کول او مکلّف کول د دوی دي په توحید سره او امر دوی ته شوے دے لکه په آیت د سورة بینه ۵ کښې دي دریمه طریقه دا چه مراد د جن او انس نه صرف مؤمنان دي څلورمه طریقه داده چه مراد د دے نه استعداد د دوی دے د پاره د توحید فی العبادت.

ف۵۷ په دے کښې اثبات د الوهیت د الله تعالیٰ دے چه الله تعالیٰ هیڅ قسم محتاج نه دے او دفع د وهم دے، هغه دا چه مخلوق چه هر کله ځان له عبید (مریان) جوړ وي نو د خپل اغراضو د پاره ئې جوړوي نو الله تعالیٰ او فرمائیل چه ما د خپل هیڅ غرض او فائدے د پاره نه دي پیدا کړي. مِن رِّزْقٍ یعنی رزق ګټل او کسب نه د بندګانو د ځان د پاره دي پیدا کښې الله تعالیٰ د ځان د پاره هیڅ فائده غرض او مقصد نه دے کړے او دا رنګ مقصد اصلي د خلقت رزق ګټل نه دي بلکه دا خو صرف ذریعه او وسیله ده د پاره د بندګئ کولو. أَن يُطْعِمُونِ د دے سره ئې مستقل مَا أُرِيدُ د دے وجے ذکر کړو چه مولیٰ کله مریئې صرف د خپل خدمت د پاره مقرر کړے وي د هغه کسب کول ئې مراد نه وي نو الله تعالیٰ دا مقصد هم د ځان نه

إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴿٥٨﴾ فَإِنَّ

یقیناً الله تعالیٰ خاص هغه روزي ورکوونکے دے خاوند د طاقت مضبوط دے. نو یقیناً

لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ

هغه کسانو لره چه ظلم ئې کړیدے برخه دَعذاب دی پشان د برخے دَعذاب دَ ملګرو دَ دوی

فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ كَفَرُوا

نو دوی دې په تادئ سره نه غواړی. نو تباهي ده هغه کسانو لره چه کفر ئې کړیدے

مِنْ يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾ ع

دَ وجے دَ هغه ورځے دَ دوی نه چه دوی سره ئې وعده کیدیشی.

مستقلاً نفی کړو. نو دا ښکاره دلیل دے چه الله تعالیٰ مخلوق ته دَ بندګئ حکم دَ خپل غرض دَپاره نه دے ورکړے بلکه دَ مخلوق فائده ده یعنی اجر دَ دنیا دَ اخرت حاصلول او دَعذاب نه بچ کیدل.

ف۵۸ هرکله چه بعض مورګان دَ خپلو مریانو نه خدمت نه اخلی نو روزي هم نه ورکوی نو الله تعالیٰ دا وهم هم دفع کړو پدے قول سره چه إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ صیغ دَ مبالغے کښ اشاره ده چه هر قسم او هر وخت او هر حاله روزي ورکوونکے او پیدا کوونکے دے. ذُو الْقُوَّةِ په دے لفظ کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ مخلوق ته په روزئ ورکولو کښ دَ هیڅ چا مدد کولو ته محتاج نه دے او لفظ دَ ذُو دلالت کوی په ښکاره کولو دَ قوت باندے الْمَتِينُ پدیکښ اشاره ده چه په قوت دَ الله تعالیٰ کښ هیڅ قسم کمزوری نه راځی.

ف۵۹ دا تخویف دنیوی دے. یعنی هرکله چه ذکر شو حکمت دَ پیدا ئښت دَ جن او انس او ذکر شو قوت دَ الله تعالیٰ نو دا سبب دے دَپار دَ سزا دَ ظالمانو هغه چه دَ حکمت دَ پیدا ئښت نه ئې خلاف کړیدے. ذَنُوبًا په اصل کښ هغه یوے ته ویلے کیږی چه ډکه وی دَ اوبو نه دا رنګ هغه ورځ دَ شر ته ویلے کیږی چه ډیره اوګده وی دلته مراد غټه برخه دَعذاب ده مِثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ مراد دَ دے نه هغه قومونه دَ مکذبینو دی چه په دے سورت کښ دَ هغوی دَ عذابونو ذکر شویدے نو په دے کښ عذاب دنیوی مراد دے.

ف۶۰ مراد دَ يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ نه ورځ دَ عذاب دنیوی ده نو فا په فويل کښ دَ سببیت دَپاره ده یعنی دغه برخه دَ عذاب سبب دے دَپاره دَ هلاکت دَ دوی. یا مراد دَ يَوْمِهِمُ نه ورځ دَ قیامت ده او فا دَپاره دَ عطف ده یعنی روستو دَ عذاب دَ دنیا نه عذاب دَ ورځ دَ قیامت دے.

ختم شو تفسیر دَ سورة ذاریات په فضل دَ ربّ موجودات.

سُوْرَةُ الطُّوْرِ ۵۲ مَكِّيَّةٌ ۷۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۴۹ رُكُوْعَاتُهَا ۲

وَالطُّوْرِ ۞ ۱ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ۞ ۲ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ۞ ۳

قسم دے په طور بانده، او په کتاب لیکلے شوی په پانړو خورو ورو کښې

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الطور۔

ربط دَ دے سورت دَماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه په سورة ذاريات کښې خبر ورکول وؤ په صدق دَ وعدے او واقع کیدل دَ جزاء وؤ نو په دے سورت کښې یو صورت دَ جزا ئے ذکرکړے دے چه هغه عذاب دے دویمه وجه داده چه هلته کښې افتنان په اوربانده ذکرکړے وؤ نو په دے سورت کښې مصیبتو ته دَ اور ذکرکوی۔ دریمه وجه داده په هغه سورت کښې اجمالی بشارت وؤ متقیانو ته او په دے کښې تفصیلی بشارت دے۔ څلورمه وجه داده په هغه سورت کښې مختصر زجر ذکرکړے وؤ او په دے سورت کښې زجرونه په کثرت سره ذکرکړے دی۔

دعوىٰ دَ سورت اثبات دَ قیامت دے په ذکر دَ وقوع دَ عذاب سره۔ او بیان دَ توحید هم دے په رد دَ شرک فی الدعا او اتخاذ دَ ولد سره په ۲۸ ۳۹ ۴۳ ۴۶ کښې۔

خلاصه دَ سورت دا ده چه دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۲۹ پورے دے په دے کښې پنځه شواهد دی په دعوی دَ سورت بانده بیا دعوىٰ ئے ذکرکړے ده بیا تخویف اخروی دے په نهه طریقو سره بیا بشارت تفصیلیه دے په اتلس وجوهو سره، سرهٔ دَ ذکر دَ سبب دَ دخولِ جنت نه په ۲۸ کښې۔

تفسیر ۱ نه تر ۷ دا اول قسمونه ئے په طریقه دَ شهادت دَ پاره دَ اثبات دَ دعوے چه وړ پسے ذکرکړے شویده۔ الطُّوْرِ هر هغه غرته ویلے کیږی چه اوچے او بوټی پکښې وی او مشهور دے په دے نوم سره هغه غرچه موسیٰ علیه السّلام سره الله تعالیٰ کلام کړے وؤ دَ هغے په خوا کښې۔ او دَ هغے په خوا کښې په اوّلیا کسانو باندے عذاب راغلے وؤ دَ وجے دَ بے ادبے کولو نه دَ دے وجے په شهادت دَ عذاب کښې ذکر کیږی او مشرکینِ عرب په تقلید دَ اهلِ کتابو کښې دَ دے واقعاتو

وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ ④ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ ⑤

او په کور آبادکړے شوی باندے، او په چت پورته کړے شوی باندے.

وَالْبَحْرِ الْمَسْجُورِ ⑥ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ

او په سمندر ډک کړے شوی باندے چه یقیناً عذاب د رب ستا

او دَ طور دَ شرافت قائل وؤ. وَكِتَابٍ مَّسْطُورٍ فِي رَقٍّ مَّنْشُورٍ، غوره داده چه مراد دَ دے نه تورات دے چه په تختو کښ لیکلے شوے موسیٰ علیه السّلام ته ورکړے شوے وو لکه په سورة اعراف ۱۴۵ کښ تیر شویدی فِي رَقٍّ هغه ترټے څرمن او کاغذ چه په هغے باندے لیکل کیدے شی او مَّنْشُورٍ دلالت کوی چه هغه خورے ربعنی اوګلے او پلنے تختے وے. او په کتاب دَ موسیٰ علیه السّلام کښ په اقوام مکذبه مخکنو باندے او په بنی اسرائیلو باندے دَ نزول دَ عذاب ډیر ذکر دے، دَ دے وجے نه دَ عذاب په شهادت کښ ذکر کیږی. وَالْبَيْتِ الْمَعْمُورِ په حدیث دَ معراج کښ ذکر شویدی چه په اووم آسمان کښ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته بیت المعمور ښکاره کړے شو چه هره ورځ هغے ته اویا زره ملائک داخلیږی او بیا دوباره دَ هغوی نمبر نه دے راغلے. نو هغه آباد دے په طوافونو او عبادتونو دَ ملائکو سره. او دَ هغے سره ملائک دَ مؤمنانو دَ پاره دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو دَ پاره دُعا ګانے هم غواړی لکه سورة مؤمن ۷ کښ دی دَ دے وجے نه په شهادت دَ عذاب کښ ذکر کیږی یا مراد دَ دے نه کعبة الله ده چه هغه هم په حاجیانو او عمره کوؤنکو سره همیشه آباده ده او ابراهیم علیه السّلام دَ هغے تعمیر کړیدے او دَ هغے په خوا کښ په اصحاب فیل باندے عذاب راغلے وؤ دَ دے وجے په شهادت دَ عذاب کښ ذکر کیدے شی. وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوعِ مراد دَ دے نه آسمان دے په قرینه دَ سورة الانبیاء ۳۲ - او دَ آسمان دَ طرف نه ډیر عذابونه په منکرینو باندے راغلی دی دَ دے وجے نه ئے په شهادت کښ ذکر کړے دے. وَالْبَحْرِ په دریاب او طوفان کښ قوم فرعون او قوم دَ نوح علیه السلام هلاک شویدی نو دا هم شهادت دے په عذاب باندے. الْمَسْجُورِ په معنیٰ دَ ډک سره او په معنیٰ دَ بل کړے شوی په اور سره یعنی دَ قیامت په ورځ به وریاندے اور بل شی لکه سورة تکویر ۶ کښ نو دَ اوبو نه به خالی شی. او په معنیٰ دَ خالی کړے شوی سره هم راځی. او په معنیٰ دَ بند کړے شوے دَ مخ دَ زمکے نه چه په ټوله زمکه باندے خور نه شی دا ټولے معانی ابن کثیر او قرطبی ذکر کړے دی.

لَوَاقِعٌ ۝٧ مَّا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ ۝٨ يَّوْمَ تَمُوْرُ السَّمَآءُ

ضرور واقع کیږی، نیشته هغه لره هیڅ دفع کوونکے ، په هغه ورځ چه اوبه چورلی آسمان

مَوْرًا ۝٩ وَّتَسِيْرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ۝١٠ فَوَيْلٌ

په چورلیدلو، او روان به شی غرونه په روانیدلو . نو تباهی ده

يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝١١ الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ

په دغه ورځ تکذیب کوونکو لره ، هغه کسان چه دوی دی په

خَوْضٍ يَّلْعَبُوْنَ ۝١٢ يَوْمَ يُدَعُّوْنَ اِلٰى نَارِ

باطله مشغولا کښ لوبے کوی . په هغه ورځ به په ډیکو بوتللے شی اُور دَ

ک ۸ دا جواب دَ قسم دے او دَ قسم او جواب په مینځ کښ مناسبت مخکښ بیان شو هغه دا چه په دے ټولو کښ دَ عذاب واقعاتو ته اشاره ده . مَا لَهٗ مِنْ دَافِعٍ یعنی تیر شوی عذابونه هیچا نه دی دفع کړی نو دَ دے نه روستو هم دفع کولے نشی لکه چه په سورة معارج ۱ ۲ کښ راغلی دی مفسرینو لیکلی دی چه دا آیاتونه دَ جبیر بن مطعم رض دَ ایمان راوړلو دَ پاره سبب اوګرځیدل او ابن کثیر لیکلی دی چه دَ دے په اوریدلو سره عمر رضی الله عنه داسے غم زده شو چه شل ورځے یا یو میاشت ئے خلقو بیمار پُرسی کوله .

۹ ۱۰ په دیکښ وخت دَ وقوع دَ عذاب ذکر کړے دے یعنی ورځ دَ قیامت . او دَ هغه ورځ هیبتونه ذکر کوی دَ آسمان او دَ غرونو حالات . تَمُوْرُ السَّمَآءُ مَوْرًا په لغت دَ عرب کښ مَوْرٌ تلو راتلو ، اوګرځیدل او چورلیدل دَ جرندے پشان دے ټولو معانیو ته شامل دے او دلته هم ټولے معانی صحیح دی او حال دَ غرونو په سَيْرًا سره ذکر دے یعنی دَ مخ دَ زمکے نه به روان کړے شی لکه سورة تکویر ۳ کښ دی .

۱۱ ۱۲ په دے کښ ذکر دَ مستحقینو دَ عذاب دے او دَ عذاب دوه اسباب ذکر کوی . حرف دَ فَا دلالت کوی په شرط مقدر باندے یعنی هر کله چه دغه حالات راشی نو هلاکت دَ مکذبینو به شوروشی . خَوْضٍ دا سبب سورة مدثر ۴۵ کښ هم ذکر کړے دے مراد دَ دے نه په باطل بحثونو کښ مشغولیدل او په دین باندے اعتراضونو او طعنو ته کول دی لکه چه دَ دهریانو او غښتو فاسقانو مجلسونه وی .

جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿۱۳﴾ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنْتُمْ بِهَا

دَ جهنم ته په ډیکو ډیکو. (او به ویلے شي) دا هغه اُور دے چه تاسو ورځے دَ دے

تُكَذِّبُونَ ﴿۱۴﴾ أَفَسِحْرٌ هٰذَا أَمْ أَنْتُمْ لَا

تکذیب کوونکي . ایا نو دا جادو دے یا تاسو هیڅ

تُبْصِرُونَ ﴿۱۵﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ

نه وینئ . ورننوځئ اُور ته که صبر کوئ او که نه کوئ برابره خبره ده

عَلَيْكُمْ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۱۶﴾

په تاسو باندے یقینًا بدلے درکیدیشي تاسو ته دَ هغه عملونو چه تاسو کول .

يَلْعَبُونَ یعني دا بحثونه دَ حق معلومولو او دَ تحقیق دَ پاره نه کوي بلکه دَ لوبو کولو په طریقه صرف وخت تیروي .

۱۳ سئله ۱۳ دا يَوْمَ بدل دے دَ يَوْمَ تَمُوْرُ یا دَ يَوْمَ مَبْنِيٌّ نه دا دَ هغه ورځے نورهيبتونه ذکر کوي . يُدَعُّوْنَ یعني اور ته به بيئے په زور باندے او په ډیکو ورکولو سره داخلوي. كُنْتُمْ بِهَا په دے کښ اشاره ده دوام تکذیب ته .

۱۵ سئله ۱۴ دَ دے نه وړاندے يَقُوْلُ الْمَلٰٓئِكَةُ پټ دے ملائک دَ جهنم په ورته اُوائي .

أَفَسِحْرٌ ، دا ډیره زورنه ده . یعني تاسو به په دنیا کښ معجزاتو الٰهیو په باره کښ ویل چه دا سحر دے او کله به مو خیال کوو چه دا نظر بندي ده نو ایا نن هم دَ اور په باره کښ ستاسو دا خیال دے .

یا أَمْ أَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ أَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے او دا حکایت دَ حال دَ دنیا دے چه تاسو په دنیا کښ دَ بصیرت او پوهے نه کار نه اخستلو .

سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ لکه چه سورة ابراهیم سئله ۲۱ کښ تیرشویدی .

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ

یقیناً متقیان په په باغونو او نعمتونو کښې وی، خوشحالی به کوی

بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ

په هغه نعمتونو چه ورکړی دی دوی ته رب د دوی او بچ ساتلی دی دوی رب د دوی د عذاب

الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَاشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ

د جهنم نه - خورئ او څښئ په خوشحالئ سره په سبب د هغه عملونو

تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ

چه تاسو کول، تکیه په ځئ وهلی وی په کټونو باندے چه صف په صف په پراته وی

وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَالَّذِينَ ءَامَنُوا۟

او جوړے به ورکړو موتږ دی په د دوی سره حورے خائسته سترګو والا - او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے

سے ۱۸ د دے نه تفصیلی بشارت د متقیانو د پاره شورو شو په دے دواړه ایاتونو کښې په خلور خیزونو سره ذکر دے - فٰکِهِیۡنَ په معنیٰ د متفکهین دے یعنی "مزے اغستونکے به وی" او قرطبی ویلی دی چه فَاکِهِیۡنَ په معنیٰ د "خاوندان د ډیرو میوو به وی" دے یعنی دا فاعل د وګټا دے لکه تَامِرٌ او لَابِنٌ پشان -

وَوَقٰهُمۡ دا مستقل نعمت دے یعنی جنت ته د ابتدا نه داخل شول او د اور نه بالکل بچ ساتلے شویدی - رَبُّهُمۡ اشاره ده چه بچ کیدل د دے د احسان د الله تعالیٰ نه دی په عمل سره نه دی -

سے ۱۹ سے ۲۰ په دے ایاتونو کښې په ظاهری محسوسی نعمتونو سره زیرے ذکر کوی هَنِیۡٓـًٔا دا د خوراك څښاك دواړو سره تعلق لری لیکن څښکل اکثر تابع د خوراك وی د دے وجے نه یوکرت ئې ذکر کړے دے مراد د دے نه دا دے چه خوراك څښاك کښې په هیڅ نقصان یا مرض او آفت نه وی -

وَزَوَّجۡنٰهُمۡ لکه چه سورة فرقان ۵۴ کښې تیر شویدی -

وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ

او تابعداری کړې ده دَ دوی بچو دَ دوی په ایمان سره یوځائے به کړو موږ دَ دوی سره

ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ

بچی دَ دوی او نه به ئیګړے کوؤ موږ دَ عملونو دَ دوی نه هیڅ

شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾

خیز هر سړے به دَ هغه عمل چه کړے وی انتظار کوؤنکے وی۔

وَأَمْدَدْنَاهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾

او زیاتوؤ موږ دوی له میوے او غوښے دَ هغه قسم نه چه دوی ئے اشتها لری۔

سلا په دے کښ زیرے دے په نورو طریقو سره۔ بِإِيمَانٍ مراد دَ ذُرِّيَّةٌ نه عام دے داړه بچی وی اوکه بالغ وی که واړه وی نو مراد دَ ایمان نه ایمانِ تبعی دے یعنی دَ مور او پلار دَ ایمان دَ وجے نه دوی هم مؤمنان دی اوکه بالغ وی نو مراد دَ ایمان نه ایمان تکلیفی او اختیاری دے یعنی اګرچه دا اولاد په عمل کولو کښ دَ پلارانو نه کم دی لیکن دَ پلارانو دَ خوشحالئ دَپاره به دَ هغوی سره په جنت کښ یوځائے کړے شی۔ او سراج المنیر کښ ذکر کړے دی چه ذریة لفظ دَ اولاد نه عام دے اباؤ او اولاد او تابعداری کوؤنکو ملګرو شاګردانو ډِ ټولو ته شامل دے په دے دلیل دَ "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ" سره وَمَا أَلَتْنَاهُمْ په دے سره وهم دفع کوی چه کیدیشی چه دَ پلارانو درجه به کوزه کړے شی نو اولاد به ورسره یوځائے کړے شی نو جواب اوشو چه معامله به برعکس وی دَ پلارانو په جزا کښ به هیڅ نقصان نه راولی۔ كُلُّ امْرِئٍ په دے کښ جواب دَ وهم دے هغه دادے لکه چه دَ پلار دَ نیک عمل په وجه سره اولاد ته فائده اورسیدله نو کیدے شی چه دَ پلار دَ ګناه په وجه یا دَ اولاد دَ ګناه په وجه سره یو بل ته نقصان اورسی نو جواب اوشو چه بد عمل دَ هر نفس ځان له دے۔ بیا دا جمله عامه ده هر نیک او بد عمل ته شامل ده او رَهِينٌ عام دے په معنیٰ دَ انتظار کوؤنکے دَ جزاءِ خیر یا جزاءِ شر یا مراد دَ دے نه صرف مشرکان او ګناه ګار دی په قرینه دَ سورة مدثر سلا سره چه په هغے کښ دَ اصحاب الیمین استثناء ذکر کړے ده۔

سلا په دے کښ بشارت په بله طریقه سره دے او دفع دَ وهم ده (پاتے په بل مخ)

يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَلَا تَاْثِيْمٌ ﴿۲۳﴾

راخلي به دَ يو بل نه په هغې کښې کاسه دَ کے نه به وي بے فائدے خبرے په هغې کښې او نه ګناه .

وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ

او ګرځي راګرځي به دَ دوي دَ خدمت دَ پاره هلکان دَ دوي ګويا که دوي

لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۲۴﴾ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

ملغلرے پټې ساتلے شوے دي . او مخامخ به شي بعض دَ دوي په بعضو باندے

وهم دا دے چه هر کله اولاد ئې ورسره یو ځائے کړل نو کیدے شي چه دَ هغوي دَ وجې نه په نعمتونو کښې کمے راشي نو جواب اوشو چه وخت په خوراکونه زیا تیږي او په دے کښې ترتیب پښان دَ سورة واقعه دے چه په ۲۰ ۲۱ کښې راغلے دی یعني اول میوے او بیا غوښے په خلاف دَ ترتیب دَ دُنیا نه او وجه داده چه په جنت کښې خوراک دَ غوښے هم دَ تفکُّه او دَ مزے دَ پاره دے نه دَ لوږے دَ وجې نه .

۲۳ یَتَنَازَعُوْنَ تنازع په اصل کښې دَ یو بل نه څیز راښکل دی مراد دَ دے نه یو بل ته ورکول دی لیکن راښکل هم راښکل دَ مزے او خوشطبعې دي دَ حرص او دَ جګړے په طریقې سره نه دي . کَاْسًا هغه لوښے دے چه ډک وي ، چه تش وي نو هغې ته کاس نه ویلے کیږي . لَا لَغْوٌ فِیْهَا دا ضمیر راجع دے جنت ته یا راجع دے کاس ته ځکه هغه مؤنث او مذکر دواړه مستعمليږي یا راجع دے تنازع ته په تاویل دَ حالت . لَغْوٌ هغه کلام دے چه هیڅ فائده پکښې نه وي اګرچه نقصان هم پکښې یل چا ته نه وي تَاْثِیْمٌ هغه کلام دے چه په هغې کښې ګناه وي لکه چه دَ دنیا په شرابو څښلو سره نشه راځي او بیا کنځل او فحش کارونه کوي دا سے به دَ جنت په مشروباتو کښې نه وي . او تاثیم تشے ته هم ویلے کیږي .

۲۴ هر کله چه خوراک او څښاک ذکر شول نو اوس دَ هغې دَ پاره دَ خادمانو ذکر کوي او سورة واقعه ۱۷ او سورة دهر ۱۹ کښې وِلْدَانٌ ذکر کړے دي . نو هلته مراد دَ دوي اولاد دے چه دَ دوي سره به په جنت کښې وي او دَ دوي په خوا کښې به هر وخت ګرځي او دلته مراد خدمتګاران دي چه دا به په جنت کښې پیدا شوي وي لکه دَ حورو پښان یا دا چه غلمان ئې ورته اُویل په اعتبار دَ خدمت کولو او ولدان ئې ورته اُویل په اعتبار دَ نابالغ کیدلو سره . لَهُمْ کښې اشاره ده چه

يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا

تپوسونه به کوی دَ یو بل نه . وائی به دوی یقیناً مونږ وُو دَ دے نه مخکښ پخپله کور کښ

مُشْفِقِيْنَ ﴿۲۶﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰنَا عَذَابَ

ویره کوونکی دوؤ دَ الله تعالیٰ نه . نو احسان اوکړو الله تعالیٰ په مونږ باندے او بچ ئے کړو مونږه دَ عذاب

السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ۭ اِنَّهٗ

دَ ګرمے هوا نه . یقیناً مونږ دَ دے نه مخکښ وُو چه الله تعالیٰ ته به مو دعا غوختله یقیناً هغه

هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿۲۸﴾ فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ

ډیر احسان کوونکے رحم کوونکے دے . نو بیان کړه قرآن نه ئے ته

هرچا پورے په خپل غلامان خاص وی . مَّكْنُوْنٌ چه په صدف کښ پټه وی یا په جنت کښ محفوظ ساتلے شوی وی او هر کله چه دَ خادمانو دا سے حال دے نو دَ مخدومانو حال خو به دَ دے نه اوچت وی .

ف۲۵ دا بشارت دے په بله طریقه سره یعنی په کوم سبب سره چه جنت ته راؤ رسیدل په هغے باندے خوشحالی کوی . يَتَسَآءَلُوْنَ مراد دا چه څه سبب دے چه دا نعمتونه دَ جنت مونږ ته حاصل شول یا دا چه دَ دنیا دَ ستړیوالی او عملونو دَ یو بل نه تپوسونه کوی لکه چه سورة صافات ف۵۰ کښ تیر شویدی .

ف۲۶ دا حاصل دَ جواب دَ ټولو دے فِيْٓ اَهْلِنَا اشاره ده چه سرهٔ دَ دے نه چه دَ اهلِ وعیال په شغل کښ نورو خلقو دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه غفلت کوؤ لیکن هغه شغل زمونږ دَ پاره سبب دَ غفلت نه دے ګرځیدلے . مُشْفِقِيْنَ اشفاق هغه ویره ده چه سرهٔ دَ رغبت او دَ مینے نه وی یعنی هم ویره او هم امید ساتل .

ف۲۷ فَمَنَّ اللّٰهُ مراد دَ دے نه توفیق دَ هدایت دے په دنیا کښ یا جنت او مغفرة مراد دے په اٰخرت کښ . السَّمُوْمِ هغه ګرمه هوا چه دَ بدن په مسامانو کښ ورننوځی او دلته مراد ګرمه هوا دَ جهنم ده .

ف۲۸ دا علت دے دَ وَقٰنَا دَ پاره یعنی دَ عذاب دَ جهنم نه بچ کیدل په دے سبب سره دوؤ چه مونږ الله تعالیٰ ته به عاجزی کوله او په دُعا کولو کښ مو شرک نه دے کړے اَلْبَرُّ هغه ذات چه بخشش او انعام دَ هغه ډیر فراخه دے .

بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجۡنُوۡنٍ ﴿۲۹﴾

په نعمت دَ رب ستا سره ته یې او نه لیونے۔

اَمۡ یَقُوۡلُوۡنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَیۡبَ الۡمَنُوۡنِ ﴿۳۰﴾

ایا دوی وائي دے شاعر دے انتظار کوؤ موږ په دهٔ باندے دَ حادثے دَ مرګ۔

ف۲۹ دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخر دَ سورت پورے۔ په دے کښ تسلّی او تشجیع ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته بیا پنځلس زجرونه دی په انکار دَ رسول او په انکار دَ قرآن او په شرک کولو باندے۔ او تخویف دنیوی دے په ف۴۷ کښ او بیا تسلّی او امر دے د عوت کوؤنکی ته سره دَ ذکر دَ توحید نه په اخری درے ایاتو کښ۔

په دے ف۲۹ کښ ترغیب دے په بیان کولو دَ قرآن سره۔ فَذَكِّرۡ۔ فآء راوړل اشاره ده چه هر کله دَ متقیانو دَ بحث نه معلومه شوه چه دَ قرآن نه فائده اخستونکی خلق شته دے نو که بل طرف ته خلق تا ته کاهن او مجنون وائي خو دَ هغوی دَ وجے بیان دَ قرآن مه پریږده او په دے ایت کښ اثبات دَ صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم دے۔ بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ قرآن نازلول په نبی باندے خاص نعمت دے۔

كَاهِنٍ هغه دے چه دعوے دَ علم دَ غیبو کوی او اکثر دروغ وی او مجنون هغه دے چه بے نظمه او بے فائدے خبرے کوی یعنی په کلام دَ نبی کښ دروغ نیشته او دعویٰ دَ علم غیب هم نه کوی او ګډے وډے خبرے هم نه کوی۔

ف۳۰ دا زجر دے منکرینو دَ رسول ته او اَمۡ په کلام دَ عربو کښ استعمالیږی دَ پاره دَ انتقال دَ یو خبرے نه بلے خبرے ته او ورسره زورنه هم وی۔ او دَ خلیل نه روایت دے چه په سورة طور کښ ام دَ استفهام (دَ زورنے) دے عطف نه دے۔

رَیۡبَ الۡمَنُوۡنِ۔ مَنُوۡن زمانے او شپه او ورځ ته ویلے کیږی ځکه چه دَ انسان عمر کم وی او کمزورے کوی او مرګ ته هم ویلے کیږی۔ او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه ریب په قرآن کښ په نورو ځایونو کښ په معنیٰ دَ شک سره دے او په دے ځائے کښ په معنیٰ دَ حوادثو سره دے چه هغه هم دَ شک په شان په ځائے نه ټینګیږی او انسان لره پریشان کوی۔ او دوی دا دَ دے وجے نه ویل چه دَ شاعر نه به دوی ویره کوله هسے چه په شعرو نو جوړ لو زمونږ بد نامی اوکړی نو دَ هغه مرګ به یئے غوښتلو چه دَ دهٔ نه به په مرګ سره خلاصے مومو۔

قُلْ تَرَبَّصُوْا فَاِنِّیْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُتَرَبِّصِیْنَ ﴿۳۱﴾

ته اوایه انتظار کوئے یقیناً زهٔ تاسو سره دَ انتظار کوونکو نه یم -

اَمْ تَاْمُرُهُمْ اَحْلَامُهُمْ بِهٰذَاۤ اَمْ هُمْ قَوْمٌ

ایا حکم کوی دوی ته عقلونه دَ دوی په دے بانده بلکه دوی قوم

طَاغُوْنَ ﴿۳۲﴾ اَمْ یَقُوْلُوْنَ تَقَوَّلَهٗ ۚ بَلْ لَّا

سرکشان دی - ایا دوی وائی دَ ځان نه ئے جوړ کړیدے بلکه دوی

یُؤْمِنُوْنَ ﴿۳۳﴾ فَلْیَاْتُوْا بِحَدِیْثٍ مِّثْلِهٖۤ اِنْ كَانُوْا

ایمان نه راوړی - نو دوی دِ راوړی یوه خبره دَ دے په شان که چرے دوی

صٰدِقِیْنَ ﴿۳۴﴾ اَمْ خُلِقُوْا مِنْ غَیْرِ شَیْءٍ اَمْ

رشتنی وی - ایا دوی پیدا کړے شویدی بغیر دَ څه فائدے نه ایا

سلم تَرَبَّصُوْا دا امر دَ تهدید (زورنے) دَپاره دے مَعَكُمْ په دے کښ اشاره ده چه دَ مرګ په انتظار کښ ټول برابر یو -

سلم دا یل زجر دے حاصل داچه دا خبرے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په باره کښ دَ عقل والو خبرے نه دی لیکن سببِ طغیان او سرکشی ده دویم اَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره عاطفه دے - اَحْلَامُ جمع دَ حُلم ده عقل ته وئیلے کیږی ځکه عقل دَ انسان روستو دَ احتلام او دَ بلوغ نه او دَ حِلم (صبر) نه پوره معلومیږی -

۳۳ سلم دا یل زجر دے متعلق دے دَ انکار دَ قرآن سره بَلْ لَّا یُؤْمِنُوْنَ یعنی تقوّل (افتراء) نیشته لیکن سبب دَ انکار دَ قرآن کفر عنادی دَ دوی دے - فَلْیَاْتُوْا دا ایت دَ تحدی دے متعلق دے دَ تَقَوَّلَهٗ سره - بِحَدِیْثٍ هر کلام چه په هغے بانده تلفظ کیدے شی که قدیم او که حادث وی نو هغے ته حدیث وئیلے کیږی او اکثر استعمال ئے منقول کلام کښ کیږی نو دَ دے وجے نه قرآن ته حدیث وئیلے کیږی او قرآن کښ اطلاق دَ حدیث په قرآن بانده نه کرته کړے شوے دے - او حدیث په معنیٰ دَ نوی بانده په قرآن کښ نه دے راغلے نو قول دَ معتزلو باطل دے چه هغوی وائی چه لفظ دَ حدیث نه معلومه شوه چه قرآن مخلوق او حادث دے -

هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ ۚ

دوی پیدا کوونکی (دَ ځانو نو دی). ایا دوی پیدا کړیدی اسمانونه او زمکه

بَلْ لَّا یُوْقِنُوْنَ ﴿۳۶﴾ اَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ

بلکه دوی یقین نه کوی. ایا دَ دوی سره خزانې دَ رب ستا دی

اَمْ هُمُ الْمُصَۜیْطِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ اَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ

یا دوی مقرر کړے شویدی (دَ هغې په تقسیم باندے) ایا دوی لره پاؤړے شته دے

یَّسْتَمِعُوْنَ فِیْهِ ۚ فَلْیَاْتِ مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ

چه غوږ ږدی په هغې کښې ورختونکی نو راوړی دعوی کوونکے دَ اوریدلو دَ دوی دلیل

سـ۳۵ سـ۳۶ دا زجر دے په شرك دَ دوی باندے او رد دے په زعم دَ مشرکانو باندے چه گمان کوی چه مونږ ته الله تعالیٰ دَ توحید او دَ رسالت او دَ قرآن دَ منلو په باره کښې امر او تکلیف نه دے راکړے او نه راکوی حاصل دَ دواړو ایاتونو دا دے چه دا گمان خو هله صحیح کیدے شی چه په دے درے خبرو کښې یوه خبره وی اول داچه تاسو پیدائش عبث او بے فائدے وی دویم داچه تاسو ځان ځپله پیدا کړے وی دریم داچه تاسو اسمانونه او زمکے وغیره پیدا کړے وی لیکن په دے درے واړو کښې یوه خبره هم نیشته نو ولے انکار کوئے. مِنْ غَیْرِ شَیْءٍ یعنی بغیر دَ دے نه چه دوی ته څه امر و نهی او کړے شی. اَلْخٰلِقُوْنَ اَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ په دے کښې یو فرق دا دے چه "دوی مستقل پیدا کوونکی دی یا په اشتراك دَ الله تعالیٰ سره"، دویم داچه "ځان ئے پیدا کړے دے او که اسمانونه او زمکه ئے پیدا کړے دی"۔

سـ۳۷ دا زجر هم دَ مخکښې سره متعلق دے یعنی که خالق نه دی نو ایا دَ الله تعالیٰ دَ خزانو اختیارمند دی "خزانې دَ رزق باران وغیره یا خزانې دَ نبوت تقسیم کولو"۔ اَمْ هُمُ الْمُصَیْطِرُوْنَ دا هم زجر دے یعنی که اختیارمند دَ خزانو نه دی نو ایا په هغې باندے دَ څوکئ کولو او انتظام او تقسیم کولو دَ پاره مقرر دی؟

حاصل داچه په دے دواړو خبرو کښې یوه خبره هم نیشته نو دوی ولے دَ توحید او رسالت نه انکار کوی۔

مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۳۹﴾

ښکاره ـ آیا هغه لره لونړه دی او تاسو لره ځامن دی ـ

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۰﴾

آیا ته غواړې د دوی نه عوض نو دوی د وجې د تاوان نه درانه شوي دي ـ

اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَمْ

آیا د دوی سره غیب (وحی) شته نو دوی د هغې نه لیکل کوي ـ آیا

يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ؕ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ

غواړي دوی مکر کول (چلول) نو هغه کسان چه کفر ئې کړے دے هم دوی به

الْمَكِيْدُوْنَ ﴿۴۲﴾ اَمْ لَهُمْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ ؕ سُبْحٰنَ

په مکر کښ کمزوري کړيشي ـ آیا دوی لره حقدار د بندګئ سیوا دالله تعالیٰ نه شته د پاک دے

ف ۳۸ دا زجر هم متعلق دے د انکار رسالت سره ـ یعني آیا دوی په څه ذریعه آسمان ته ختلے شي چه وحی او څه خبر د غیب ځان له راوړي لکه چه دے نبي صلی الله علیه وسلم ته وحی جبرئیل راوړي ـ مُسْتَمِعُهُمْ یعني که یو شخص دعویٰ په دروغه سره اوکړي چه زهٔ د آسمان خبرے اورم نو د هغه دا خبره بغیر د دلیل نه منظوره نه ده لکه د کاهنانو خبرے ـ

ف ۳۹ دا هم زجر دے او رد دے په مشرکین یالملائکه بانډے او دا رنګ اشاره ده د دوی بے عقلئ ته ـ

ف ۴۰ دا زجر تعلق لري د انکار د رسالت سره مَّغْرَمٍ بالفرض که ته د دوی نه څه تاوان غواړې نو دوی برداشت نشي کولے یا د مطلق تاوان برداشت هم نه شي کولے او په دیکښ اشاره ده اخلاص د پیغمبر ته چه بے اجرته تبلیغ کوي ـ

ف ۴۱ دا هم متعلق دے د انکار د رسالت سره او د الْغَيْبُ نه مراد وحی ده او يَكْتُبُوْنَ نه مراد لیکل دي یا د الغیب نه مراد لوح محفوظ دے او يَكْتُبُوْنَ نه مراد حکمونه او فیصلے کول دي ـ

ف ۴۲ كَيْدًا مکرونه کول د پاره د قتل د نبي یا د هغه نه خلق اړول (رباتے په بل مخ)

اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿۴۳﴾ وَاِنْ يَّرَوْا كِسْفًا مِّنَ

اللّٰه تعالیٰ دَ هغې نه چه دوی ورله شریک جوړوی۔ او که چرې دوی او وینی یو ټکړه دَ

السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْكُوْمٌ ﴿۴۴﴾

اسمان نه راپریوتونکې دوی به اوائی وریځ ده لاندې باندې.

فَذَرْهُمْ حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمُ الَّذِيْ فِيْهِ

نو پریږده دوی تر دې پورې چه مخامخ به شی دَ هغه ورځ سره چه په هغې کښې به دوی

يُصْعَقُوْنَ ﴿۴۵﴾ يَوْمَ لَا يُغْنِيْ عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ

بې هوشه کړیشی ، په هغه ورځ چه نه به شی دفع کولې دَ دوی نه مکرونه دَ دوی

او منع کول په مختلفو حیلو سره۔ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا دا ئې ذکر کړو دَ پاره دَ تعمیم تول کافرانو ته۔ هُمُ الْمَكِيْدُوْنَ یعنی دَ دوی دَ کیدونو دَ وایسئ بد اثر به په دوی باندې راشی لکه چه فرمائیلې دی وَلَا يَحِيْقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ۔

۴۳ دا زجر دې په شرك دَ دوی باندې یعنی دَ دوی اِله نیشته چه دَ مغلوب کیدلو نه ئې بچ اوساتی یا دَ دوی کیدونو لره کامیاب کړی. تر دې پورې لفظ دَ اَمْ څوارلس کرته ذکر شو دویم اَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دې لکه چه مخکښ ذکر شول او باقی ټول استفهام دَ زورَنې او دَ توبیخ دَ پاره دی۔

۴۴ دا زجر دې په عنادکولو سره دَ تخویف دنیوی ته او دا جواب دَ هغه مطالبې دَ دوی دې چه په سورة بنی اسرائیل ۹۲ کښې ذکر شوې ده۔ كِسْفًا په سکون دَ سین سره واحد دې او په فتحه دَ سین سره جمع ده يَقُوْلُوْا قرطبی وئیلې دی چه دا قول دَ دوی دَ وجې دَ عناد نه دې یا دَ وجې دَ تقلید نه دې او دا دواړه ډلې په هغوی کښې موجود دی۔ مَّرْكُوْمٌ دا وائی په دفع دَ وهم کښې چه دا خووریځ نه ده وریځ خو نرۍ دی نو دوی اُوئیل چه دا مرکوم دې۔

۴۵ دا تفریع ده په مخکښې ټولو زجرونو باندې چه بنا دی په عناد دَ دوی فَذَرْهُمْ مراد دَ دې نه زورته او تخویف دَ عذاب دې مقصد دا نه دې چه هیڅ ورته مه وایه نو دا په آیت دَ قتال سره منسوخ نه دې۔

حَتّٰى يُلٰقُوْا يَوْمَهُمْ مراد دَ دې نه ورځ دَ عذاب دَ دنیا ده په هغه چا باندې چه

شَيْـًٔا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ

هیڅ ضرر او نه به دَ دوی سره مدد کیدیشی ۔ او یقینًا هغه کسانو لره

ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

چه ظلم ئے کړے دے عذاب دے مخکښ دَ قیامت نه او لیکن اکثر دَ دوی

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۴۷﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ

نه پوهیږی ۔ او صبر کوه فیصلے دَ رب ستا ته یقینًا ته

بِاَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ

زمونږ په سترګو کښ ئے او تسبیح وایه سره دَ حمد دَ رب ستا نه په هغه وخت

چه په دنیا کښ ئے عذاب راځی او ورځ دَ قیامت دَ عامو منکرینو عذاب یا بوٓ دَ پاره دہ ۔
يُصْعَقُوْنَ دَ هیبت دَ عذاب یا دَ قیامت دَ وجے نه په بے هوشه شی یا دَ صعق نه مراد
مرکیدل دی په عذاب دَ دنیا سره ۔
سے۴۶ په دے کښ ذکر دَ هیبت دَ ورځے دَ عذاب او دَ قیامت دے يَوْمَ دا بدل دے
دَ يَوْمَهُمْ نه ۔
سے۴۷ دا هم تخویف دے دُوْنَ ذٰلِكَ، دُوْنَ په معنیٰ دَ مخکښ یا په معنیٰ دَ سیوا سره دے
ذٰلِكَ اشاره دہ یوم ته چه په مخکښ ایت کښ ذکر دے او دَ دے عذاب نه مراد دَ دنیا
نور عذابونه دی لکه لوګه مرضونه قحطونه دَ زړونه تنګ والے وغیره او دارنګ
عذاب قبر مراد دے لکه چه قرطبی او خطیب شربینی ویلے دی ۔
وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ یعنی چه عذابونه دَ دنیا او ریا تلے راشی لیکن دوی
نه پوهیږی چه دا عذاب دے او دَ څه مقصد دَ پاره دے لکه چه حدیث کښ
وارد دی چه منافق ناجوړه شی او بیا جوړ شی نو دَ دهٔ مثال دَ اوښ دے نه پوهیږی چه
دَ څه دَ پاره ئے دے تړلے وؤ او دَ څه دَ پاره ئے پرانستلو ۔

تَقُوْمُ ﴿۴۸﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُوْمِ ﴿۴۹﴾ ع

چه اودریږې ، او دَ شپې نه هم تسبیح وایه او په وخت دَ شاګرځولو دَ ستورو کښې ۔

سـ ۴۸ ۔ ۴۹ دا عطف دے په قدرهم باندے۔ لِحُکْمِ رَبِّكَ فیصله دَ عذاب ده چه مخکښې ایت کښې ذکرشوه ۔
فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا دا صفت دَ الله تعالیٰ په ظاهری معنیٰ باندے دے او کیفیت باندے ئې الله تعالیٰ پوهیږی خو اشاره ده چه الله تعالیٰ تالره دینی او ستا حفاظت هم کوی نو ویره مه کوه ۔
وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ دا دَپاره دَ دفع کولو دَ حزن دے لکه چه دَ سورة حجر په سـ ۹۷ سـ ۹۸ کښې تیر شویدی او په دے کښې دعویٰ دَ توحید هم ده ۔
حِيْنَ تَقُوْمُ دا عام دے هرقیام ته شامل دے که دَ خوب نه بیداریدل دی او که دَ یو مجلس نه پاسیدل دی او که موځ ته اودریدل دی او که دعوت او تبلیغ ته اودریدل دی په دے ټولو حالتونو کښې مسنون اذکار نقل کړے شویدی ۔
وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ ، تسبیح عام دے موځ کول تلاوت دَ قرآن او تسبیح ویل او توحید بیانول ټولو ته شامل دے لفظ دَ مِنْ په بعض (تکړه) باندے دلالت کوی ماښام او ماسخوتن او وخت دَ تهجد ته اشاره ده ۔
وَإِدْبَارَ النُّجُوْمِ ادبار مصدر دے یعنی وخت دَ شاګرځولو دَ ستورو او هغه وخت دَ صبا ښکاره کیدلو دے چه په دغه وخت کښې ستوری په پټیدلو باندے شروشی او مراد دَ دے نه دوه رکعتونه سنت دَ فجر دی او دا په حدیث دَ ترمذی کښې وارد دی یا مراد ترینه سنت او فرض دَ فجر دی ۔
تنبیه لفظ دَ إِدبار مصدر دے او مفرد دے نو یو وخت ترینه مراد دے او ادبار السجود (ق سـ ۴۰) کښې ادبار جمع ده ډیرو وختو نه ترینه مراد دی لکه په تفسیر دَ سورة ق کښې تیر شویدی ۔
(الحمد لله چه ختم شو تفسیر دَ سورة الطور په فضل دَ الله تعالیٰ سره)

سُوْرَةُ النَّجْمِ ۵۳ مَكِّيَّةٌ ۲۳	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۶۲ رُكُوْعَاتُهَا ۳

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ① مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ

او قسم دے په ستوری کله چه راکوزشی (دَ ځیل ځائے نه)- نه دے بے لارے شوی ستاسو ملگرے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة النجم

ربط دَ دے دَمخکښ سورت سره په درے وجوهو سره دے. اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورت کښ ډیر زجرونه وو په منکرینو باندے نو په دے سورت کښ زجردے دَ هغوی په دلیل باندے چه اتباع دَظن او دَ هوٰی ده. دویمه وجه دا ده مخکښ سورت کښ وقوع دَ عذاب ذکروه نو په دے کښ سبب دَ عذاب ذکر کوی. دریمه وجه دا ده مخکښ سورت کښ زجرونه په انکار دَرسول باندے نو په دے سورت کښ اثبات دَ صداقت دَ رسول دے.

دعوىٰ دَ سورت. اثبات دَصداقت دَرسول دے چه دا رسول په شرکیاتو باندے ردکوی په دلیل دَ وحی سره اومشرکان دلیل نیسی په گمان او په خواهش سره. اورد دے په مشرکین بالملائکه والجن او انس او ستورو باندے او په شرک فی العلم اوعبادت اوشفاعت شرکیه باندے اودعوی دَ توحید په ۶۲ کښ ذکر ده.

خلاصه دَ سورت. دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۲۹ پورے دے په دیکښ شهادت دے په صدق دَرسول صلی الله علیه وسلم په ذکر دَ نهه احوالو دَ هغه سره دَ نهه حالاتو دَ جبرئیل علیه السلام. بیا زجر دے په مشرکینو باندے په نهه طریقو سره اورد دے په مشرکین بالملائکه او جن اوانس باندے اورد دے په دلیلونو دَ مشرکانو باندے.

تفسیر ۱ وَالنَّجْمِ دا قسم دے دَپاره دَ شهادت ذکرکولو دَمابعد دَپاره. په دیکښ ډیر اقوال دی اول قول دا دے چه النجم ثُرَيَّا (رتلے پیروته) ستوری دی چه هغه اوه ستوری دی په یو ځائے راجمع وی. دوٓیم قول مراد ټول ستوری دی. په دے دواړو قولونو کښ النَّجْمِ مفرد جنس دے او مراد تریته جمع ده. دریم قول هغه خاص ستورے چه شیطان په هغے سره اُویشتلے شی. (رپاڼے په بل مخ)

وَمَا غَوٰى ﴿٢﴾ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ﴿٣﴾

او نه دَ حق نه تیروتلے دے. او خبرے نه کوی دے دَ خواهش نه .

او الف لام په النجم کښ عهدِ ذهنی دی خلورم قول نجم قرآن دے ځکه چه نجم قِسط (حصه) ته وئیلے کیږی او قرآن په ډیرو قسطونو سره نازل شوید ے او په ډیرو حصو باندے مشتمل دے. إِذَا هَوٰى په اول او دویم سره مراد دَ دے نه غائب کیدل دی. او په دریم قول سره مراد دَ دے نه ښکته راویشتل دی په شیطانانو او په خلورم قول سره مراد دَ دے نه نازلیدل دَ قرآن دی. او مناسبت دَ قسم دَ مقسم له سره دا دے، هرکله چه مراد ثریّا ستوری شی نو ثریا په ټولو ستورو کښ لیدونکو ته ښۀ ښکاریږی او دا ماسخوتن ښکاره کیږی کله چه میوے پخے شی. نو دا رنګ آخری نبی په ټولو انبیاؤ کښ ډیر ښکاره دے خصوصًا په معجزه دَ قرآن سره میوے دَ حکمتونو پورهٔ پخے شوے او دَ شکونو شبهاتو بیخ او تلو. او هرکله چه مراد ټول ستوری شی نو مناسبت دا دے چه ټول ستوری غائب شی نو رڼا دَ صبا او بیا تمر ښکاره شی دا رنګ نور رسولان دَ الله تعالی غائب شول او آخری رسول دَ صبا او دَ نمر دَ رڼا پشان ښکاره شو. او په دریمه توجیه سره مناسبت دا دے چه ستوری ویشتلے کیږی دَ پاره دَ شړلو دَ شیطانانو دَ دے دَ پاره چه کاهنان په قرآن کښ تلبیس پیدا نه کړی او دَ دے رسول صداقت پورهٔ ښکاره شی او دا نښه (چه شیطانان تړلے کیږی دَ آخری رسول دَ راتللو په زمانه کښ) په سورة جن کښ هم ذکر کړے شویده. او په خلورمه توجیه باندے مناسبت ښکارهٔ دے یعنی چه قرآن نازل شو نو دَ دے نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښ دَ ګمراهئ او سرکشئ هیڅ تصوّر او ګمان پاتے نه شو.

۲ دا جوابِ قَسم دے. فرق په مینځ دَ ضلال او غوایت کښ په ډیرو وجوهو سره دے اوّله وجه دا ده چه ضلال دا دے چه مقصد ته دَ رسیدلو بالکل لاره نه وی او غوایت دا دے چه مقصد ته طریقِ مستقیم نه وی. دویمه وجه دا ده چه ضلال عام دے عقیدے او عملونو دواړو ته شامل دے او غوایت خاص دے په عقیده فاسده پورے. دریمه وجه دا ده چه ضلال دا دے چه دَ لارے نه خطا شی او غوایت دا دے چه دَ مقصد نه محرومه شی. خلورمه وجه دا ده چه ضلال ګمراه کیدل دی په بے علمئ سره او غوایت ګمراهی ده سره دَ علم نه عنادًا.

۳ دا دویم جوابِ قَسم دے یعنی کلام دَ دے رسول دَ هر قِسم دَ خواهشاتو نفسانیو

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ④ عَلَّمَهُ شَدِيدُ

نه دہ دا مگر وحی چه وحی کیدیشی، خودنه کړیدہ دهٔته سخت

الْقُوَىٰ ⑤ ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَىٰ ⑥ وَهُوَ

قوتونو والا، خائست والا نو برابر شو، او حال داچه دے

بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ⑦

وؤ په اوچته غاړه باندے۔

نه پاک دے۔ یَنْطِقُ هر هغه خبره چه دَ خُلے نه راوځی، او دا شامل دے قرآن ته په وخت دَ تلاوت کولو کښ او شامل دے احادیثو ته چه دا دواړه دَ اتباع هوی نه دی صادر شوی۔

۴:۔ دا دریم جواب قسم دے او هُوَ نه مراد ټول هغه کلام دے چه نبی صلی الله علیه وسلم ئې دَ خپلے خُلے نه راوباسی " قرآن او احادیث" بلکه دَ هغه افعالو او احوالو ته هم شامل دے لکه چه په سراج المنیر کښ لیکلے دی۔ بعض اهل علمو دَ دے ایت نه دلیل ذکر کړے دے چه نبی صلی الله علیه وسلم لره اجتهاد کول منع وؤ لیکن جواب دا دے چه دَ هغه دَ اجتهاد (چه عمل په وربانلے کیدے شو) به هم په وحی سره تائید کیدے شو نو هغه هم په وحی کښ داخل وؤ۔

۵ تا ۷:۔ په دے کښ ذکر دَ صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دے په بله طریقه چه دَ هغے حاصل په غوره تفسیر سره دا دے چه دے رسول ته جبرئیل علیه السلام تعلیم ورکړیدے او دَ هغه سره لیدل هم شویدی۔

مراد دَ شدید القوی نه جبرئیل علیه السلام دے په دلیل دَ سورة تکویر ۲۰ سره او بعض مفسرینو دَ دے نه الله تعالی مراد اخستے دے لیکن هغه قول صحیح نه دے۔

ذُو مِرَّةٍ۔ مِرَّه صحت او قوت دَ بدن ته ویلے کیږی لکه چه په حدیث کښ راغلے دی (لَا تَحِلُّ الصَّدَقَةُ لِغَنِيٍّ وَلَا لِذِي مِرَّةٍ سَوِيٍّ) او مرّه خائسته صورت ته هم ویلے کیږی۔

وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ دا ضمیر هم جبرئیل علیه السلام ته راجع دے او په دیکښ واقعه دَ ابتداءِ دَ وحی ته اشاره ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته جبرئیل علیه السلام په مکه کښ ابطح مقام کښ په اصلی شکل کښ (پاتے په بل مخ)

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ

بیا نزدے شو نو ښۀ نزدے شو نو شو په مقدار د پاتو د دوه لیندو

أَوْ أَدْنٰى ﴿۹﴾ فَأَوْحٰى إِلٰى عَبْدِهٖ مَا أَوْحٰى ﴿۱۰﴾

بلکه زیات نزدے۔ نو وحی یې اوکړه بنده د الله تعالیٰ ته هغه چه وحی یې اوکړه۔

ښکاره شو چه د هغه شپږ سوه وزرے وے او د آسمان کنارے یې پټ کړے وے الافق هغه طرف د آسمان ته وئیلے کیږی چه صبا او نمر تر ینه ښکاره کیږی۔
ابن جریر وئیلے دی چه دا ضمیر محمد صلی الله علیه وسلم ته راجع دے او په دے کښ اشاره ده واقعے د معراج سماوی ته چه دواړه د معراج په شپه د زمکے نه ملګری شول او د آسمان افق ته اورسیدل. بیا ابن کثیر په دے قول باندے رد کړے دے لیکن د توجیه په لحاظ سره دا قول صحیح دے۔
سځ سځ ضمیرونه په اول تفسیر جبرئیل علیه السلام ته راجع دی او په دویمه توجیه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راجع دی او نزدیکت الله تعالیٰ ته مراد دے۔
فَتَدَلّٰی په اصل کښ د بره طرف نه کوز طرف ته اویزان کیدلو ته وئیلے کیږی یعنی جبرئیل علیه السلام راکوز شو د افق نه او په معنیٰ د ښۀ نزدیکت سره هم استعمالیږی۔
قَابَ قَوْسَيْنِ. قاب په عرف د عرب کښ د قوس (کمان) د مقبض (د نیولو ځائے) نه تر سره پورے ته وئیلے کیږی۔ او نیول خو په مینځ کښ وی نو هر طرف ته یو یو قاب شو نو معلومه شوه چه په هر قوس کښ دوه قابَ دی لکه لسان العرب کښ هم داسے وئیلے دی نو په دے مقام کښ د دوه قوسونو یو یو طرف مراد دے نو په اصل کښ قابا قوسین وو او بعضو وئیلے دی چه په عبارت کښ قلب دے یعنی قابَا قَوْسٍ د یو قوس دوه قابونه۔ بل قول دا دے چه قاب دلته په معنیٰ د فقط مقدار سره دے لکه چه ابن اثیر وئیلے دی بیا دا تشبیه عرب د نزدیکت د پاره استعمالوی په دے وجه چه د دوه دشمنانو صلحه به اوشوه نو هر یو به خپل قوس راوړلو او د دواړه قوسونو قابونه به یې د یو بل سره پیوست کړل نو مطلب به یې دا وؤ چه آئینده د پاره به مونږ د مخالف دشمن په مقابله کښ د یو طرف ته حمله کوؤ او مونږ به یو یو۔
سځ عَبْدِهٖ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے برابره خبره ده که اوحیٰ ضمیر جبریلؑ

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ⑪ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ

انکار نه دے کړے زړه، دَ هغه نه چه لیدلے دے. آیا تاسو جګړه کوئے دَده سره

عَلٰى مَا يَرٰى ⑫ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ⑬

په هغه څیز باندے چه دهٔ لیدلے دے. او یقیناً دهٔ لیدلے دوٴ هغه لره بل ځل،

ته راجع وی او که الله تعالیٰ راجع وی. په اوله توجیه سره مراد د وحی نه ابتداء دَ سورة مدثر ده یا نور اقوال هم دی او په دویمه توجیه سره وحی مبهم ده.

سلا سلا په دیکښ صداقت دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په رؤیت سره ذکر کوی برابره خبره ده چه رؤیت (لیدل) دَ جبریل علیه السلام دی لکه چه دا غوره او ظاهره توجیه ده یا لیدل دَ الله تعالیٰ مراد دی لکه چه روستو تحقیق کیږی. هرکله چه جبریل مراد نشی نو مراد دَ رؤیت نه لیدل په سترګو سره دی او دَمَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مطلب دا دے چه زړه هم دَ سترګو سره موافقت کړیدے یعنی لیدل ئے یقینی دی. او اَفَتُمٰرُوْنَهٗ کښ خطاب مشرکانو ته دے چه دَ جبرئیل علیه السّلام په لیدلو کښ دَ دے نبی صلّی الله علیه وسلّم سره جنګ مه کوئے. او هرکله چه مراد لیدل دَ الله تعالیٰ وی نو دَ عبدالله بن عباس رضی الله عنهما دَ قول مطابق مراد دَ دے نه لیدل دی په زړه سره دا روایت امام مسلم په روایت دَ ابوالعالیه سره دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدے په دیکښ وئیلے دی راٰه بفؤاده مرتین (په زړه سره ئے دوه کرته لیدلے دے) او په روایت دَ ترمذی کښ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه راٰی محمد ربّهٗ مطلق ذکر کړیدے او ترمذی وئیلے دی چه دا حدیث حسن غریب دَے او مراد دَ دے مطلق نه مقید (په زړه سره) دے او فرّاء بغوی دَ انس رضی الله عنه او دَ حسن او عکرمه نه دا لفظ نقل کړے دے چه راٰه بعینهٖ چه الله تعالیٰ ئے په سترګو سره لیدلے دے او ابن کثیر دَ هغے باره کښ وئیلے دی چه وفیه نظرٌ.
حاصل دا دے چه لیدل دَ الله تعالیٰ په شپه دَ معراج کښ مسئله اختلافیه ده غوره دا ده چه یقینی ثبوت ئے نیشته. ابن کثیر او ډیرو محدثینو غوره کړیده چه لیدل ئے نه دی شوی او خطیب شربینی او بعضو مفسرینو دویم قول غوره کړیدے او قرطبی دَمَا رَاٰی او عَلٰی مَا یَرٰی په تفسیر کښ دا قول هم نقل کړیدے چه مراد دَ دے نه هغه ټول آسمانی حالات او بیت المقدس دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ معراج په شپه کښ لیدلی وو او په هغے کښ مشرکانو شک او جدال کوؤ.
سلا په دیکښ هم دوه قولونه دی اول دا چه ضمیر راجع دے (پاتے په بل مخ)

عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ

دَ سدرة المنتهٰی په خوا کښې - چه دَ هغې سره نزدے جنت

الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿۱۶﴾

الماوٰی دے - کوم وخت چه پټ کړو بیرے لره هغه څیزونو چه پټ ئے کړو،

جبرئیل علیه السلام ته دویم داچه الله تعالیٰ ته راجع دے او نَزْلَةً په معنیٰ دَمَرَّةً سره دے لیکن تعبیر ئے په نَزْلَةً سره کړیدے (یعنی راکوځیدل) نو مراد داچه نبی صلی الله علیه وسلم دَ عرش دَ طرف نه راکوز شو او دَ هغه په هغه شپه کښې ختل راکوځیدل په آسمانونو کښې ډیر کړته وو لکه چه په حدیث معراج کښې دی چه موسیٰ علیه السلام (رشپږم آسمان) ته ډیر کرته تلے راغلے دے. یا مراد دَ دے نه راکوځیدل دَ جبریل دی. یا مراد دَ دے نه نزول دَ الله تعالیٰ دے او نزول صفت دَ الله تعالیٰ په صحیح حدیث کښې راغلے دے (چه دَ شپې په آخر کښې الله تعالیٰ نزدے آسمان ته نزول کوی) لیکن دَ کیفیت په لحاظ سره متشابه دے په هغې باندے الله تعالیٰ عالم دے اوکه هر یو احتمال شی خو په آیت کښې آسمانی معراج ته اشاره ده ځکه دَ سدرة المنتهٰی سره لیدل او دَ هغې حالات کتل په شپه دَ معراج پورے خاص دی په سبب دَ احادیثو دَ معراج سره، نو څوک چه وائی چه آسمانی معراج دَ قرآن نه ثابت نه دے نو هغوی جاهلان دی.

۱۴ ۱۵ ۱۶ ظاهر داده چه دا ظرف دَ رائ دے یعنی لیدلے وو (چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وو) دَ سدرة المنتهٰی سره وو او دَ مرئ (یعنی جبریل یا الله تعالیٰ) سره دَ تعلق هم احتمال لری سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى اضافت دے مکان ته یعنی په منتهٰی مکان کښې دغه اونه ده یا اضافت دَ محل دے حال ته یعنی دَ اونے سره منتهٰی ده - او دَ دے وجه تسمیه کښې ډیر اقوال دی یو داچه دَ ملائکو دَ ختلو دَ پاره منتهٰی ده دویم داچه ارواح دَ مؤمنانو هغے ته ور رسیږی دریم دا چه منتهٰی دَ علمونو ده او دَ ماوردی نه نقل کړے شویدی چه تخصیص دَ بیرے ئے دَ دے وجے نه کړیدے چه په هغې کښې درے صفتونه دی ۱ اوګدا سورے ۲ مزیدار خوند ۳ خائسته بوئ، نو دارنګ ایمان هم مشتمل دے په قول او عمل او نیت باندے نو بوئ دَ دے په شان دَ قول دَ ایمان دے او سورے دَ دے

مَازَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ

نه دے کوګ شوے نظر دَده او نه دَحد نه تیرشویٔ - یقیناً دهٔ اولیدلے دَ ښخیو دَ قدرت

رَبِّهِ الْكُبْرٰى ﴿۱۸﴾ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ

دَ رب خپل نه لوئے ښخیے - ایا تاسو سوچ کړے دے په حال دَ لات

پشان دَعمل دَایمان دے او خوند دَ دے پشان دَ نیت دَ ایمان دے دَ دے وجے نه دا محل دارواحو دَ مؤمنانو دے . عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى دا تعریف دَ مکان دَجنت دے چه جنت اوس په اُوم اسمان کښ دَ سدرة المنتهٰی سره دے اګرچه وسعت دَ جنت خو دَ اسمانونو او زمکے نه لوئے دے لکه چه سورة اٰل عمران ۱۳۳ او سورة حدید ۲۱ کښ ذکر دی لیکن الله تعالیٰ قادر دے چه په لږ ځائے کښ لوئے خیز ځائے کړی لکه چه په یوه سترګه کښ ډیره دُنیا په نظر کولو کښ ځائے کولے شی یعنی په یو وړه سترګه یا ندے بنده خومره دنیا ته نظر کولے شی .
اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى په حدیث صحیح کښ راغلے دی چه هغه پتنګان دَ سرو زرو وو او اکثر اهلِ علم وائی چه مراد دَ دے نه ملائک دی او په حدیث دَ معراج کښ وارد دی چه په شپه دَ معراج کښ څه سدرة المنتهٰی ته بوتلے شوم نو دَ هغے پانړے پشان دَ غوګونو دَ هاتیانو وے او دَ هغے بیرے پشان دَ منګو دَ هجر مقام وے او هرکله چه امر دَ الله تعالیٰ هغے لره پټه کړه نو داسے بدله شوه چه هیڅوک دَ مخلوق دَ الله تعالیٰ نه دَ هغے دَ ستائینے کولو طاقت نه لری. او لفظ دَ مَا يَغْشٰى مبهم دے چه دلالت کوی په عظمت دَ هغه خیزونو یا ندے.
۱۷ په دے کښ صفت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے چه هغه دَ دغه مقام ډیر ادب کړے دے او دَ خپل مقصد نه علاوه بل طرفته نظر نه دے کړے لے. دَ مقصد نه نظر بل طرف ته په ګرځولو دوه طریقے دی یو دا چه دَ هغه مقصد نه ښی طرف یا ګس طرف ته اوګوری یا دَ مقصد دَ ځائے نه نظر ورتیر کړی دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه ئے دَ دے دواړو نفی کړیده، په مَا زَاغَ سره دَ اول قسم نفی ده او په مَا طَغٰى سره دَ دویم قسم نفی ده .
۱۸ مِنْ لفظ دلالت کوی چه په ټولو ایاتو ئے احاطه نه ده کړے بلکه بعض ئے لیدلے دی او اٰيٰتِ الْكُبْرٰى لفظ عام دے هغه ټولو (یا تے په بل مخ)

وَالْعُزّٰى ﴿۱۹﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ﴿۲۰﴾

او دَ عزیٰ ، او دَ منات چه دریم یٔ دوستو دے .

حالتونو ته شامل دے چه په شپه دَ معراج کښې یٔ لیدلے وو، دَ انبیاء علیهم السلام سره ملاقات کول، جنت او جهنم لیدل او په هغې دواړو کښې دَ هغې اهل متشکل کیدل او دَ هغوی لیدل او جبرئیل علیه السلام په شکل دَ رفرف (شین فرش) کښې لیدل او نور ملائک لیدل. او ابن کثیر ویلے دی چه مِنْ اٰیٰتِ رَبِّهٖ لفظ دلیل دے چه الله تعالیٰ یٔ نه دے لیدلے. لیکن څوک چه دَ الله تعالیٰ لیدل ثابتوی نو دَ تیر شوی (ماکذب الفوأد ما رای) ایت نه ثابتوی او په دے ایت کښې دَ هغې نفی صراحتًا نیشته.

فائده: هرکله چه صداقت دَ نبی صلی الله علیه وسلم ذکر کړو چه دَ دهٔ خبرے ټول وحی ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په واسطه دَ جبرئیل سره نو اوس مقصد دَ وحی ذکر کوی چه هغه رد دے په شرک دَ مشرکانو باندے یعنی دَ مشرکانو دلیل په شرک کولو ظن او اتباع دَ هوی دے او دلیل دَ نبی صلی الله علیه وسلم وحی ده.

اَفَرَءَيْتُمُ دا زجر دے مشرکانو ته یعنی تاسو سره علم او دلیل شته دے چه دا معبودان ستاسو مالک دَ نفع او دَ ضرر دی او حقدار دَ الوهیت دی؟

اللّٰتَ دَ دے دریو تخصیص یٔ دَ دے وجے نه او کړو چه دوی دَ مشرکانو په نیز ډیر مشهور او لوئے معبودان وو. امام بخاری دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړے دے چه لات یو سړے وو چه دَ حاجیانو دَ پاره به یٔ ستوان دَ غوړو یا او بو سره لړل او هغوی ته به یٔ دَ خوراک دَ پاره ورکول یعنی سخی او بزرګ وو. او قرطبی ویلے دی، هرکله چه مړ شو نو مشرکانو په دَ هغه دَ قبر عبادت کوو او هغه چه په کومه ګټه باندے ناست وو او ستوان به یٔ اوړه کول نو ثقیف قبیلے دَ هغه ګټے عبادت شورو کړو او دَ هغې دَ پاره یٔ یو کور ته جوړه کړه او هغه به یٔ په غلافونو باندے پټه کړے وه او طوافونه به یٔ دَ هغې کول او هرکله چه طائف فتح کړے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مغیره بن شعبه رضی الله عنه او ابو سفیان اولیږلو او هغه یٔ اونړولو او کور ته یٔ اوسیزله اولات په شد دَ تا سره دے او تخفیف پکښې هم جائز دے.

وَالْعُزّٰى امام نسائی روایت نقل کړے دے چه هرکله مکه فتح کړے شوه نو

رسول الله صلی الله علیه وسلم خالد بن الولید نخله مقام (په مینځ دَ مکه او طائف کښې) ته اولیږلو چه هغه ځائے کښې عزّٰی وه نو خالد ورته راغے او په هغه ځائے کښې دَ کیکر درے اونے وے او یو کوټه وه (چه په هغے کښې به دَ عزّٰی عبادت کیدلو) هغه اونے ئے پریکړے او کوټه ئے او نړوله او بیا راغے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے خبر ورکړو هغه ورته اوفرمائیل واپس لاړ شه تا هیڅ کار نه دے کړے (یعنی عزّٰی درنه پاتے شویده) هرکله چه واپس راغے نو مجوران دَ عزّٰی ورته راجمع شول او چغے کړے یا عزّٰی یا عزّٰی (یعنی خالد بن الولید ئے په هغے سره ؤ یرولو) ناساپه یو زنانه بربنډه بیربسرے رابښکاره شوه او په سر ئے خاؤره اچولے نو خالد رضی الله عنه هغه په توره یا تبرے قتل کړله بیا واپس راغے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دغه عزّٰی وه او بیا به ئے عبادت او نکړے شی نو معلومه شوه چه دا پیرے وه او قریش او بنی کنانه دا په دویمه مرتبه کښې معبوده گڼړله او دَ هغے دَ کوټے نه به ئے طوافونه کول او دَ هغے په نوم بانډے ئے نذرونه ورکول. نو په دے لفظ کښې رد دے په مشرکین بالجن باندے۔

وَمَنٰوةَ دا هم دَ یو انسان نوم وؤ (چه دَ دوی په نیز باندے بزرگ وؤ) او په قدید مقام کښې اوس او خزرج دَ هغه په نوم یوه کوټه جوړه کړے وه او په هغے باندے غلافونه اچولے وؤ دَ هغے طوافونه ئے کول او په هغه ځائے کښې ډیر ځاروی دَ منات په نوم سره ذبح کول۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو سفیان یا علی بن ابی طالب اولیږلو او هغه ئے او نړوله۔

الثَّالِثَةَ دا صفت مؤکّده دے وجے نه ذکر کړلو چه جاهلیت والو منات په دریمه درجه کښې معبود گڼړلو۔

الْأُخْرٰى سوال:- عادت دَ عربو دا دے چه اخریٰ دَ دویم په صفت کښې ذکر کوی او دلته خو دَ دریم په صفت کښې ذکر کړے شوے دے؟

جواب:- اخریٰ په معنیٰ دَ متاخره سره دے یعنی دے دَ مخکښو دواړو نه په مرتبه کښې روستو دے۔ اُخریٰ دَ عدد مراد نه دے، نور جوابونه هم شته لیکن هغه غوره نه دی په ذکر دَ لات او منات سره رد دے په مشرکین بالانس باندے۔

أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ

آیا تاسو لہ دے ناریته بچی دی او هغه لره دے لور وی - دا خو تقسیم دے

ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا

نقصانی - نه دی دا مګر نوموته دی چه کیخودلے دی

أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن

تاسو او ستاسو پلارانو نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په دے باندے هیڅ

سُلْطَانٍ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى

دلیل تابعداری نه کوی دوی مګر د ګمان او د هغه څیز چه غواړی

الْأَنفُسُ ۖ وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ الْهُدَىٰ ﴿٢٣﴾

نفسونه او یقیناً راغلے دے دوی ته د طرف د رب د دوی نه هدایت -

۲۱ ۲۲ دارد دے په مشرکین باندے ځکه دوی الله تعالیٰ ته نسبت کوؤ چه ملائک د هغه لونړه دی او د هغوی عبادت ئے هم کوؤ او ځان د پاره ئے لور بد ګنڼله - او بعض مفسرینو لیکلی دی چه لات عزّیٰ منات هم مؤنث نوموته دی او دوی په الله تعالیٰ ته نسبت کوؤ چه دا د الله تعالیٰ لونړه دی -

قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ یعنی دا سے تقسیم که چرے د بندګانو په مینځ کښې او کړے شی نو هغوی به ورته ظلم او د نقصان تقسیم اوائی نو څه رنګ دا سے تقسیم د رب العزت جل شانه سره کوئے ځکه چه تاسو پد یکښې د ډیر انقص او ادنیٰ (چه ستاسو په نیز دی) څیز نسبت لوئے او اعلی او اکبر ذات ته کوئے -

۲۳ دوستو د زجر نه رد شد ید دے په دلیلو نو د مشرکانو باندے - اسماء مراد د دے نه نومونه د الوهیت دی اصلی نومونه مراد نه دی هغه خو مور او پلار ایخودلے وی - نومونه د الوهیت دا سے وی چه دا فلان بزرګ مشکل کشا دے او فلان غوث اعظم دے او فلانے د فلانی مرض ذمه وار دے او فلانے د فلانی حاجت پوره کولو د پاره دے لکه چه مشرکانو د خپلو معبودانو باطلو د پاره دا سے نومونه (صفتی) کیخودلے وی - وَآبَاؤُكُمْ کښې اشاره ده چه دوی په دے کښې د مشرانو تقلید کوی -

اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ

ایا شته دے دَپاره دَ انسان هغه چه ارمان کوی۔ نو خاص الله تعالیٰ لره دے آخرت

وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ

او دنیا۔ او ډیر ملائک شته په آسمانونو کښ

مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ اشاره ده چه دَ عقیدے دَ اثبات دَپاره منزل دلیل ضروری دے۔ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ مراد دَ دے نه حسن ظن دے په خپلو مشرانو باندے لکه چه ابن کثیر ویلے دی یا دَ ظن نه مراد ظنی دلیلونه دی چه په هغے سره عقیدے نه ثابتیږی۔ وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ رو مبے په باطلو عقیدو کښ استعمالیږی او دا په باطلو عملونو کښ استعمالیږی یعنی شرکی عملونه دَدوی دَ نفسونو په خواهشاتو باندے بنا دی او دا رنګ ظن کله دَ دلیل نه حاصل شوے وی چه په هغے باندے بعض مسائلو کښ عمل کیدے شی نو مَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ دَ دے دَپاره ذکر کړو چه دا ظن صرف په خواهشاتو دَ نفسونو دَ دوی باندے بنا دے۔ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ اه اشاره ده چه دَدوی عذر الله تعالیٰ زائله کړے دے۔ چه قرآن او سنت دَ رسول ئے رالیږلی دی۔

۲۴ یعنی هر کله چه معلومه شوه چه دَ دوی دَپاره هیڅ دلیل شرعی نیشته نو اوس په طریقه دَ زجر سره فرمائی چه ایا بے دلیله خبرو پسے تلل دَ انسان دَپاره جائز دی (استفهام انکاری دے) یعنی نه دی جائز! او بعض دَ تمنا دَ انسان نه دا ده چه دَ غیر الله عبادت کوی او وائی چه دا دَ خیر کار دے او نور بدعات او رسمونه کوی او وائی چه دا ثواب دے۔ دا رنګ په دے کښ عجز دَ انسان ته اشاره ده هغه دا چه انسان ډیر ارمانونه کوی دَ مال وجاه وغیره لیکن هغه نه حاصلیږی۔ (مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهُ)۔

۲۵ دا رد دے په ټولو مشرکانو باندے یعنی متصرف دَ دنیا او آخرت صرف الله تعالیٰ دے۔ لات منات عزیٰ وغیره لره تصرف او اختیار نیشته او دا رنګ دَ انسان دَ تمناګانو پوره کولو اختیار او تصرف خاص دَ الله تعالیٰ سره دے دَ خپل مشیت او ارادے موافق چا لره چه اوغواړی نو تمنا پوره کړی او چا لره چه اونه غواړی نو تمنا دَ هغه نه پوره کوی۔

لَا تُغۡنِیۡ شَفَاعَتُهُمۡ شَیۡـًٔا اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ

چه فائده نه شي درکولے سفارش دَدوی هیڅ فائده مګر روستو دَ دے نه

اَنۡ یَّاۡذَنَ اللّٰهُ لِمَنۡ یَّشَآءُ وَ یَرۡضٰی ﴿۲۶﴾

چه اجازت په اوکړی الله تعالیٰ هغه چاته چه اوغواړی الله تعالیٰ او رضا ئے شي ۔

اِنَّ الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ لَیُسَمُّوۡنَ

یقیناً هغه کسان چه ایمان په آخرت باندے نه لری ضرور نوموته اخلی

الۡمَلٰٓئِکَةَ تَسۡمِیَةَ الۡاُنۡثٰی ﴿۲۷﴾ وَ مَا لَهُمۡ بِهٖ

دَ ملائکو په نومونو دَ زنانو سره ۔ او نیشته دوی لره په دے باندے

مِنۡ عِلۡمٍ ؕ اِنۡ یَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَ اِنَّ الظَّنَّ

هیڅ دلیل تابعداری نه کوی دوی مګر دَ ګمان او یقیناً ګمان چه دے

سـ۲۶ دارد دے په مشرکین بالملائکه باندے یعنی عجز دَ ملائکو ذکرکوی چه مقربین ملائک سفارش بے دَ اجازت نه نشي کولے نو لات منات عزّیٰ وغیره به ستاسو څه حاجت پوره کړے شي ۔ فِی السَّمٰوٰتِ کښ اشاره ده مقرّب ملائکو ته او دارنګ اشاره ده چه دَ ټولو ملائکو اصل اوسیدل په اسمانونو کښ دی زمکے ته په امردَ الله تعالیٰ دَ بعضِ کارونو دَپاره راکوزیګی ۔ لِمَنۡ یَّشَآءُ وَ یَرۡضٰی مشیت اراده ده او رضا خوښه ده په دواړو کښ فرق دے نو اشاره ده چه سفارش دَ ملائکو دَپاره یو شرط اراده دَ الله تعالیٰ ده او دویم شرط رضا ده دَ مشفوع له نه یعنی چه ایمان او توحید والا وی ۔

سـ۲۷ دا بل رد دے په مشرکین بالملائکه باندے چه ملائک مؤنث ګڼړی او مؤنث نومونه ورته وائی او بنات الله ورته وائی دَ دے نه علاوه په فارسئ ژبه کښ فرشته او پښتو ژبه کښ ملائکه (پوته) ویل منع دی هاں په عربئ ژبه کښ صیغه دَ ملائکة جمع ده په هغے سره تانیث نه لازمیږی ۔ او دارنګ په سورة صافات سـ۱۵۰ او سورة زخرف سـ۱۹ کښ تیر شویدی ۔

لَا يُغْنِىْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿۲۸﴾ فَاَعْرِضْ عَنْ

فائده نه ورکوی دَ حق (دَ ثابتولو) په باره کښې هیڅ فائده. نو مخ اوګرځوه دَ

مَّنْ تَوَلّٰی ۙ عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ

هغه چا نه چه اوړی دَ ذکر زموږ نه او نه غواړی مګر ژوند

الدُّنْيَا ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ؕ اِنَّ

دنیوی - دا آخری مقصد دے دَ علم دَ دوی یقینًا

رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۙ

ستا رب ښهٔ پوهه دے په هغه چا باندے چه اوړی دَ لارے دَ هغهٔ نه

وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰی ﴿۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِی

او هغه ښهٔ پوهه دے په هغه چاچه هدایت موی . او خاص الله تعالٰی لره اختیار دَ هغه څیز دے

س۲۸ دا بل زجر دے په مشرکین باندے چه دَ دوی دغه عقیدے دَ شفاعت دَ ملائکو او دَ بنات الله کیدلو او دَ مؤنث والی دَ ملائکو بے دلیله عقیدے دی صرف ظن او ګمان دے۔ په س۲۳ کښې هوٰی دَ نفس ئې هم ذکر کړے وه او دلته ئې ذکر نه کړه ځکه چه هلته دَ لات منات او عزّٰی په باره کښې دَ مشرکانو په عقیدو او مشرکانه عملونو دواړو باندے تردید وو او دلته خو دَ ملائکو په باره کښې دَ دوی په مشرکانه عقیده باندے رد دے او په دے باره کښې دَ دوی عملونه نه وو۔ اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِىْ مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا دا رنګ سورة یونس س۳۶ کښې تیر شویدی۔ په عقیده او اصولو کښې خو دلیل ظنی هر قسم هیڅ فائده نه ورکوی او په اعمالو او فروعو کښې هم هغه وخت فائده ورکوی چه دَ اصولو نه مستنبط وی۔

او هر کله چه دلیل ظنی دَ پاره په اصولو کښې سند صحیح نه وی نو په اعمالو کښې هم فائده نه ورکوی۔

س۲۹ تا ۳۲ دَ دے آیت نه تر آخر دَ سورت پورے دویم باب دے په دے کښې امر دے په اعراض کولو سره او درے اسباب دَ اعراض کولو او درے صفات ئې دَ اعراض کوونکو ذکر کړے دی۔ بیا زجر دے (پاتے په بل مخ)

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ لِیَجْزِیَ الَّذِیْنَ

چه په اسمانونو کښ دی او هغه چه په زمکه کښ دی د دے د پاره چه بدله به ورکوی الله تعالیٰ هغه چاته

اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَیَجْزِیَ الَّذِیْنَ

چه بدی ئے کړے ده په سبب د عملونو د دوی او بدله به ورکوی هغه کسانو ته

اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰی ﴿۳۱﴾ اَلَّذِیْنَ یَجْتَنِبُوْنَ

چه خائسته کارونه ئے کړے دی خائسته بدله - دا هغه کسان دی چه ډډه کوی

په پریخودونکی د دین باندے او دلیل نقلی د صحف ابراهیم او موسٰی نه ذکر کړے دے بیا لس صفتونه د الله تعالیٰ ذکر کوی په رد د شرک کښ او تخویف دنیوی په ذکر د خلورو قوامو مکذبینو سره بیا صداقت د رسول او د قیامت دے او زجر دے په انکار د قران باندے او اخر کښ تفریع د توحید ده په ټول سورت باندے -

په دے (۲۹) کښ تفریع ده په مخکښ بیان باندے چه هرکله دلیل د حق وی ده او دلیل د مشرکانو ظن او د خواهش تابعداری ده نو لازم ده په حق والو باندے چه د هغوی نه مخ واړوی او مراد د اعراض نه د هغوی د دین او مسلک نه ځان ساتل دی. او په دے ایاتونو کښ د باطل پرستو درے قبائح ئے ذکر کړیدی او دا اسباب د اعراض دی. ذِکْرِنَا مراد د دے نه توحید او قران دے ﴿۳۰﴾ ذٰلِکَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ یعنی دوی صرف په دنیا او د دنیا په طلب باندے پوهیږی لکه په سورة روم ۷ کښ تیر شوی دی یا دا چه د دنیا علمونه حاصلوی او په دین باندے نه پوهیږی یا دا چه د دین علم سبب د دنیا تحصول د پاره اوګرځوی اِنَّ رَبَّکَ اه علت دے د امر د اعراض د پاره یعنی الله تعالیٰ د دواړو حالات جدا جدا پیژنی د دے وجے نه د اعراض او د جدا ئے امر ئے هدایت والو ته کړے دے -

۳۱ ۳۲ دا عطف دے په معنیٰ د اِنَّ رَبَّکَ هُوَ اَعْلَمُ اه یعنی د هرچا په حال باندے عالم دے نو دا رنګ هرڅه د هغه په تصرف او اختیار کښ دی. لِیَجْزِیَ د مخکښ دواړو جملو سره تعلق لری او لام د عاقبت دے یعنی د الله تعالیٰ د دغه دواړه ذکر شوی صفتونو عاقبت او انجام دا دے چه په عدل او انصاف سره هر فریق له د هغه مناسبه جزا ورکوی او په دے ایت کښ ذکر د فریقینو دے. اَلَّذِیْنَ اَسَآءُوْا بِمَا عَمِلُوْا ده دوی درے په تیر شوی ایت کښ ذکر شویدی. اَلَّذِیْنَ اَحْسَنُوْا دا ذکر د دویم

كَبَٰٓئِرَ ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡفَوَٰحِشَ إِلَّا ٱللَّمَمَۚ إِنَّ

دَ غټو ګناهونو نه او دَ بنګاره بدکارونو نه سيوا دَ دے نه چه په زړه کښ ئې تيرشي يقيناً

رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلۡمَغۡفِرَةِۚ هُوَ أَعۡلَمُ بِكُمۡ

ستا رب فراخ بخشش والا دے هغه ښه پوهه دے په تاسو باندے

فريق دے او احسان نه مراد سورت کښ اتباع دَ وحی ده په مقابله دَ ظن او دهوی

کښ . اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ دا تفسير دَ الذِيْنَ احسنوا دے اول صفت ثبوتيه وؤ او

دا صفت سلبيه دے. كَبَآئِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِش دا دواړه ګناهونه کبيره دی ليکن فرق

ئې په صفت کښ دا دے چه کبائر نه مراد هغه ګناهونه دی چه قرآن او سنت دَ

هغې نه منع کړے دی او دَ هغې سزا دنيوی يا اخروی ئې ذکر کړے وی اګرچه عقل

يا طبيعت دَ هغې نه نفرت نه کوی لکه اقسام دَ شرک او لوئے بدعات شول او الْفَوَاحِش

نه مراد هغه دی چه دَ هغې نه ټول عقلمند او سليم طبيعت والا نفرت کوی او په شرع کښ

دَ هغې نه منع کړے شوے وی نو عقل والا ئې هم بد ګنړی لکه زنا، دروغ، بهتان، حقوق

دَ بندګانو ضائع کول ظلم په بندګانو باندے وغيره . إِلَّا اللَّمَمَ دَ دے په تفسير کښ

درے اقوال دی اول دا دے چه دا ټولو ګناهونو ته شامل دے که صغيره وی او که

کبيره وی بغير دَ شرك او کفر نه په دے شرط چه يو کرت ارتکاب او کړی او بيا توبه

او کړی دوباره ئې نه کوی . بنا په دے قول باندے إِلَّا استثناء متصله ده او مراد

دَ دے نه غير انبياء دی ځکه چه انبياء عليهم السلام معصوم دی دَ هر قسم ګناه کولو

نه . دويم قول دا دے چه اللمم نه مراد صغيره ګناهونه دی يعنی چه په قرآن او

حديث کښ په هغې باندے حد او عذاب نه وی ذکر کړے او په حسنا تو سره معاف

کيږی بنا په دے باندے استثناء منقطع ده ځکه چه دا دَ کبائرو دَ جنس نه نه دی

يا إِلَّا په معنیٰ دَ غير سره دے او دَ دے نه هم انبياء عليهم السلام خارج دی ځکه

چه غوره قول دا دے چه هغوی دَ صغيره ګناهونو نه هم مطلقاً پاک دی . دريم قول

دا دے چه مراد دَ دے نه خطرات قلبيه دی يعنی بے اختياره وسوسے چه په زړه

کښ تيريږی ليکن عمل پرے نه کوی بنا په دے باندے هم استثناء منقطع ده

او په آيت کښ انبياء عليهم السلام هم داخل دی په قرينه دَ حديث سره چه په هغې

کښ دا شعر نقل کړے شوے دے (پاتے په بل مخ)

إِذْ أَنشَأَكُم مِّنَ الْأَرْضِ وَإِذْ أَنتُمْ أَجِنَّةٌ

کله چه تاسو یې پیدا کړی یئ د زمکے نه او کله چه تاسو پټ وئ

فِي بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوا أَنفُسَكُمْ

په ګیډو د مائنداو ستاسو کښې نو ستائنه مه کوئ د ځانونو خپلو

هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقَىٰ ﴿٣٢﴾ أَفَرَأَيْتَ الَّذِي

هغه ښه پوهه دے په هغه چاچه تقوی کوی - ایا ته خبر یې د هغه چا په حال باندے

تَوَلَّىٰ ﴿٣٣﴾ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰ ﴿٣٤﴾

چه مخ یې اړولے دے، او ادا کړے دے حق لږ او بند شوے دے.

إِنْ تَغْفِرِ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا ﴿﴾ وَ اَىُّ عَبْدٍ لَّكَ لَا اَلَمَّا

اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ دا تسلی ده اصحابِ لمم ته یا ترغیب دے ټولو ګناهګارو ته په توبه او استغفار کولو سره. هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ روستو د ترغیب نه ترهیب دے چه خپل صفتونه مکوئ بلکه د الله تعالیٰ نه بخنه غواړئ او دا تمهید دے د فلا تزکوا دپاره حاصل دا دے چه الله تعالیٰ هر انسان لره چه د خاورے نه جوړ کړے دے نو الله تعالیٰ ته معلومه ده چه د سختے خاورے نه دے او که د نرمے نه او د طیبے خاورے نه دے او که د خبیثے نه یعنی چه دے به نیک عمل والا وی او که بد عمل والا او نیک بخت به وی او که بد بخت به وی او کله چه د مور په خیټه کښې دا انسان د ابتدا د نطفے نه تر پیدائش پورے موجود وؤ او په کتاب د ملائکو کښې د دهٔ عمر، اجل، روزی، عمل او نیک بختی او بد بختی لیکلے ده په هغے باندے صرف الله تعالیٰ عالم دے نو هر کله چه انسان د خپل حال د عاقبت نه خبر نه دے نو فَلَا تُزَكُّوا اَنْفُسَكُمْ د خپلو ځانونو صفتونه مکوئ چه زهٔ لوئ مرتبے والا یم او زهٔ بخلے شوے یم او زهٔ جنتی یم دا سے ستائینے کول حرام دی.

۳۳-۳۴ ربط دا دے لکه چه خپله ستائینه کول حرام دی نو دا رنګ امید ساتل چه بے له صالح عمل کول او بیا دین پریخودل کافی دی د نجات دپاره نو دا عقیده ساتل هم منع ده هیڅ فائده نه ورکوی او په دے ایاتونو کښې زجر دے په یو خاص صفت باندے که په هر چا کښې وی هغه دا دے که یوه سجده الله تعالیٰ ته اوکړی او نور

أَعِنْدَهُ عِلْمُ الْغَيْبِ فَهُوَ يَرٰى ﴿۳۵﴾ أَمْ لَمْ

ایا ده سره علم دے د پټو خبرو نو دے وینی ایا نه دے

يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسٰى ﴿۳۶﴾ وَإِبْرٰهِيمَ

خبر کړے شوے په هغه مضمون چه په صحیفو د موسیٰ علیه السلام کښ دے، او د ابراهیم علیه السلام کښ

توحید او رسالت نه منی او دا د نجات د پاره پوره ګنړی لکه چه مشرکین مکه د دے سورت د تلاوت په وخت کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځائے سجده کړے وه او حال دا چه توحید او رسالت ئے نه منلو یا یو شخص صرف موخ ګوی او نور دین نه منی او دا د نجات د پاره کافی ګنړی یا یو عالم دعوت د حق څه زمانه اوکړی او بیا ئے پریګدی او یا دعوت د یو مسئلے کوی او نورے مسئلے د حق نه بیانوی او دا پوره ګنړی او شیطان انسی یا جنی ورله دهوکه ورکړے وی چه نور دین ته حاجت نیشته او ګناه زما په غاړه دے یا ورته اوائی چه ستا پلار نیکه ډیر عمل کړے دے هغه ستا د پاره پوره دے نو په دے ایاتونو کښ دا سے انسانانو ته زورنه ورکوی او دغه دواړه شبهات هم دفع کوی. تَوَلّٰی د پوره دین نه مخ ګرځوی. وَأَعْطٰى قَلِيلًا د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه لګ اطاعت اوکړی او بیا بند شی وَأَكْدٰى دا اغستلے شویدے د کدیة نه په طریقه د مثال سره یعنی چه څوک کوهی کنی او مخے ته ئے کاګره راشی نو کنستل پریګدی او عاجز شی نو دا رنګ دغه انسان لګ کار د دین اوکړو او نور ورته سخت مشکل ښکاره شو نو پریخودلو.
۳۵ دا استفهام انکاری دے فَهُوَ يَرٰى رویة په معنیٰ د علم سره دے یعنی ده ته د غیب او د وحی نه معلومه شویده چه لږ دین کښ نجات دے ټول دین ته حاجت نیشته خو دا سے نه ده.
۳۶ ۳۷ صحف موسیٰ نه مراد تورات دے ځکه چه هغه مشتمل وُ په مختلفو حِصّو باندے لکه چه قران ته هم صحف مکرّمه ویلے شویدے یا مراد د دے نه نور واړه کتابونه وُ چه موسیٰ علیه السلام ته د تورات نه مخکښ ورکړے شویوُ او د هغے تعداد په صحیح قول سره ثابت نه دے او دا رنګ صحیفے د ابراهیم علیه السلام د هغے هم پوره شمار معلوم نه دے په روایت صحیحه سره. الَّذِي وَفّٰى صفت دے د ابراهیم علیه السلام لکه چه سورة بقره ۱۲۴ کښ راغلے په بل مخ)

الَّذِیْ وَفّٰۤی ﴿۳۷﴾ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی ﴿۳۸﴾

هغه چه پوره ئې ادا کړے دے حق، چه نشي اوچتولے یو پیټی والا پیټی د بل چا.

وَاَنْ لَّیْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی ﴿۳۹﴾

او چه نیشته انسان دپاره مګر هغه چه دهٔ کوشش کړے وی.

ذکر شویدی یا صفت دے د هر یو د موسٰی او ابراهیم علیه السلام نه. او دواړه قسم صحیفے د دے وجے ذکر کړے چه مشرکینو به د موسٰی علیه السلام د کتاب تصدیق کوؤ د وجے د دوستانے او د اعتماد نه په یهودیانو بانده او د ابراهیم علیه السلام د تابعدارئ خو دعوه دار وؤ. نو په دے دواړو کښ په دوی بانده الزام حجت دے.

۳۸ د دے ایت نه تر ۵۵ پورے مضمون د دے صحیفو دے او یو قول دا دے چه تر ۴۲ پورے دے او په دے جمله کښ تردید دے د اولے وسوسے چه هغه خوک چه دین ئې نیمګړے پریخودلو هغه ته شیطان انسي او جنّي وسوسه ورکړیده چه د باقی دین پریخودلو کښ څه ګناه وی نو زهٔ د هغے ذمه وار یم او دا سے تیر شویدی په سورة انعام ۱۶۴ او سورة اسراء ۱۵ او سورة فاطر ۱۸ او سورة زمر کښ.

۳۹ په دے کښ جواب دے د دویمے وسوسے هغه دا چه عمل د مشرانو پوره دے نو په هغے سره کشران بچ کیدے شی نو د کشرانو عمل کولو ته څه ضرورت نیشته نو په دے جمله کښ د دے تردید دے او ترغیب دے چه انسان د ځان د فائدے دپاره د عمل کولو کوشش اوکړی.

فائده ۱:. په دے ایت سره معتزلو استدلال کړے دے چه هیڅ بنده د خپل عمل ثواب بل چا لره نشي بخلے او نه هغه بل ته په دے سره څه فائده رسیږی. لیکن دا قول ئې باطل دے او خطیب شربیني د ابن تیمیه رحمة الله علیه نه یوویشت وجوه نقل کړے دی چه انتفاع په عمل د غیر سره ثابت ده یو د هغے نه حدیث دے چه نبی صلی الله علیه وسلم د خپل امت د طرف نه اضحیه (قربانی) کړے وه دویم د هغے نه حدیث د سعد دے چه د مور د طرف نه ئې صدقه کړے وه په امر د نبی صلی الله علیه وسلم سره دریم انتفاع د اولاد په عمل د پلار سره ده لکه چه سورة طور کښ تیر شویدی او دا سے په واقعه د خضر علیه السلام په باره د یتیمانو کښ په سورة کهف کښ تیر شویدی). نو د دے وجوهو په بنا بانده

په دے ایت کښې دَ اهل سنت والجماعت یوځو توجیهات دی. اول دا چه دَ سعی نه مراد ایمان دے او دَ عمل دَ غیر نه فائده هم مؤمن ته رسیږی دَ ایمان دَ وجې نه نو دا سے شوه لکه چه دا عملونه دهٔ پخپله کړے وی. دویمه وجه دا چه دا ایت خاص دے په یهودو او نصارئ پورے. دریمه دا چه لام په معنیٰ دَ ملکیت او اختیار سره دے یعنی هر انسان لره په خپل عمل کښې ملکیت او اختیار دے که پخپله تربیه فائده اخلی او که بل چا ته یئے ثواب بخی. څلورمه دا چه دلته دَ انسان نه مراد کافر دے. پنځمه دا چه حکم دَ دے ایت په اعتبار دَ عدل دَ الله تعالیٰ سره دے او دَ بل چا دَ عمل فائده یا زیات دَ عمل نه ثوابونه په فضل دَ الله تعالیٰ سره دی. شپږمه دا چه سعی په معنیٰ دَ نوی سره دے یعنی دارومدار په نیت سره دے. اُومه توجیه دا ده چه ایت خاص دے په باره دَ ګناهونو کښې دا توجیهات تفسیر روح المعانی او قرطبی او سراج المنیر وغیره کښې ذکر کړے دی.

فائده ۲:- دَ امام شافعی او امام مالک رحمهما الله مسلک دا دے چه عبادت مالیه بل چا ته فائده ورکولے شی لیکن دَ عبادت بدنیه (موځ، روژه، تلاوت) ثواب بل چا ته نشی بخلے کیدے ځکه چه دَ هغوی په نیز دَ عبادت مالیه په باره کښې صحیح احادیث شته لیکن دَ عباداتِ بدنیه په باره کښې صحیح احادیث نه دی ثابت. او دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په نیز دَ عباداتِ بدنیه ثواب هم غیر ته بخلے کیدے شی یو دلیل عمومات دی چه انتفاع په عمل دَ غیر سره ثابت ده لکه چه مخکښې دَ تفسیر سراج المنیر حواله هم ورکړے ده دویم حدیث دَ خثعمیه دے په باره دَ حج عن الغیر کښې چه حج عبادتِ بدنیه او مالیه دواړو نه مرکب دے دریم قیاس کول دی په عبادتِ مالیه پانده خلورم قرطبی روایت کړے دے چه عائشه رضی الله عنها اعتکاف کړے وؤ دَ طرف دَ رور نه او دَ دے سند ئے نه دے ذکر کړے پنځم حدیث دَ مسند احمد دے چه عمر رضی الله عنه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وؤ که ستا پلار اقرار دَ توحید کړے وے او تا دَ هغه دَ طرف نه روژه نیولے وے او تصدق دِ کړے وے نو هغه له په یئے نفع ورکړے وه دا روح المعانی نقل کړے دے پنځم حدیث دَ ابو داؤد دے چه ابو هریره رضی الله عنه اهلِ ابلّه ته ویلی وؤ څوک شته چه زما دَپاره په مسجد عشار کښې دوه رکعته یا څلور رکعته موځ اوکړی او اُوائی چه دا دَ ابو هریره دَپاره دی دا مشکوٰة باب الملاحم کښې راوړے دے (پاتے په بل مخ)

وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَىٰ ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزَاهُ

او یقیناً کوشش دَ دهٔ زر دے چه او به لیدلے شی - بیا به بدله ورکیدلے شی

الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ﴿٤١﴾ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ

بدله بشپړه پوره ، او یقیناً ستا رب ته

او البانی ویلی دی چه اسناد دَ دے ضعیف دی.

فائده ۳ :- په عبادتِ بدنیه کښ تلاوت دَ قرآن کریم هم داخل دے دَ هغے ثواب یل چاته د. بخلو دَ پاره هم خصوصی نص صحیح نیشته صرف په عموماتو کښ دَ احناف په نیز باندے داخل دے لیکن دَ ختم قرآن دَ کولو دَ پاره خاص هیئت جوړول چه ډیر کسان جمع شی او سپارے تقسیم کړی او په جمع سره قرآن لولی څوک یے په اوچت آواز سره لولی او څوک په پټه سره دا هیئت جوړول دَ ختم دَ پاره په هیڅ نص سره ثابت نه دے لکه چه فتاوی بزازیه هم لیکلی دی. وَيُكْرَهُ اِتِّخَاذُ الطَّعَامِ فِي الْيَوْمِ الْأَوَّلِ وَالثَّالِثِ وَبَعْدَ الْأُسْبُوعِ وَالْأَعْيَادِ وَنَقْلُ الطَّعَامِ إِلَى الْقَبْرِ فِي الْمَوَاسِمِ وَاِتِّخَاذُ الدَّعْوَةِ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَجَمْعُ الصُّلَحَاءِ وَالْقُرَّاءِ لِلْخَتْمِ أَوْ لِقِرَاءَةِ سُورَةِ الْأَنْعَامِ أَوِ الْإِخْلَاصِ. ملـ حاشیه دَ عالمګیری (ترجمه او مکروهه دے طعام تیارول په مړی پسے په اوله او دریمه ورځ او ورستو دَ هغے نه او په اخترونو کښ او طعام اوړل قبر ته په موسم دَ اخترونو کښ او مکروهه دے دعوت جوړول دَ پاره دَ قرآن لوستلو او جمع کول دَ نیکانو او قاریانو دَ ختم دَ پاره یا سورة انعام او اخلاص دَ لوستلو دَ پاره) او ابن کثیر ویلی دی چه دَ هغے عبارت ترجمه دا ده "او دَ دے آیت نه امام شافعی او دَ هغه تابعدارو دلیل نیولے دے چه قراءة چه دے دَ هغے ثواب مړو ته نه رسیږی ځکه دا عمل او کسب دَ صحابه کرامو نه دے او دَ دے وجے نه نبی صلی الله علیه وسلم دیته خپل اُمت نه دے بللے او نه یے ترغیب ورکړے او نه یے دیته په نص او اشاره سره ارشاد کړے او دَ هیڅ یو صحابی نه نقل نه دے شوے او که دا دَ خیر کار وے نو صحابه کرامو به زمونږ نه مخکښ کړے وے او په باب دَ عباداتو کښ په نصوصو باندے اقتصار کیدے شی او نه هغے ته په قیاسونو او آراؤ سره کرځیدل کیدے شی" او په روح المعانی کښ لیکلی دی چه هر کله قراءت په اجرت سره وی لکه چه اوس یے اکثر خلق کوی حافظانو ته اجرت ورکوی دَ دے دَ پاره چه دَ دوی په مړو پسے قرآن او لولی نو دَ دے ثواب هغوی ته نه رسیږی ځکه چه دَ هغے ثواب نیشته دَ وجے دَ حرام والی دَ اجرت اخستلو نه په قراءة

سـ۲۰ ملـ۲ لکه چه سورة زلزال کښ راغلی دی او ظاهر دَ آیت نه دا ده چه عملونه (په خاص شکل کښ) لیدلے کیدے شی.

الْمُنْتَهٰى ﴿۴۲﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿۴۳﴾ وَاَنَّهٗ

اخری رسیدل دی، او یقیناً هغه خندا پیدا کوی او ژړا پیدا کوی، او یقیناً هغه

هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ﴿۴۴﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ

مړه کول کوی او ژوندی کول کوی، او یقیناً هغه پیدا کړیدی جوړې

الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾

نارینه او زنانه، دَ نطفې نه کله چه واچولے شی په رحم کښې۔

وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ

او یقیناً دَ هغه په ذمه بانْدے پیدائش بیل دے، او یقیناً هغه

۴۲ دَدے ایت نه صفات دَ الله تعالیٰ ذکر کیږی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید په دے ایت کښې یو صفت ذکر کړے دے۔ اَلْمُنْتَهٰى یعنی رجوع دَ ټولو خلقو او دَ ټولو عملونو الله تعالیٰ ته دَه دَ پاره دَ حساب کولو او دَ جزا ورکولو۔ یا انتها دَ امید ونو یو الله تعالیٰ ته دَه دَ بل هیچا ته امید دَ نفع او نقصان نیشته۔ یا انتها دَ فکرونو الله تعالیٰ پورے دَه یعنی هر څیز ته فکر کیدے شی لیکن دَ الله تعالیٰ په ذات کښې فکر نه چلیږی یعنی هر کله چه شیطان وسوسه شورو کړی چه الله تعالیٰ چا پیدا کړے دے او څنګه دے نو دغه وخت اعوذ بالله او ائیے او منع شئ دَ فکر کولو نه او دا په حدیث صحیح کښې راغلے دی۔

۴۳ نه تر ۴۹ پورے په دے ایاتونو کښې نهه صفتونه دَ الله تعالیٰ ذکر کوی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید۔ او په دے کښې دوه دوه متضاد څیزونه ذکر کوی دے ته په علم بدیع کښې الطِّبَاقُ الْمُتَضَادّ ویلے کیږی۔ او په یکښې مفعولونه نه دی ذکر کړی ځکه مراد دَ دینه تخصیص په یو مفعول پورے نه دے بلکه ذکر دَ صفتونو دَ قدرت دَ الله تعالیٰ مراد دے۔ فائدہ: په دے صفتونو کښې چه په کومو کښې هیڅ وهم دَ شرکت دَ غیر الله نیشته نو په هغې کښې هو ضمیر فصل یئے نه دے ذکر کړے لکه خَلَقَ مذکر او مونث دَ نطفې نه مشرکانو هم دَ دے اقرار کوؤ۔ او په کومو صفتونو کښې چه وهم دَ شرک وؤ نو په هغې کښې هو ضمیر فصل یئے دَ پاره دَ تاکید دَ توحید ذکر کړے دے۔ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى یعنی خندا او ژړا او دَ دے اسباب (غمونه او خوشحالئ) الله تعالیٰ پیدا کوی۔ اَمَاتَ وَاَحْيَا دَ بعض منکرینو سرکشانو دعویٰ دا دَه چه دا (پاکے په بل مخ)

أَغْنٰى وَأَقْنٰى ﴿٤٨﴾ وَأَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿٤٩﴾

مالدارجوړوي او غريب جوړوي، او يقيناً هغه رب دَ شعرىٰ ستورى دے ،

تصرف او اختيار زما دے چه څوک مړکوم او څوک ژوندے پريږدم لکه نمرود چه دعوىٰ کړے وه او ابراهيم عليه السلام په هغه باندے حجت قائم کړو سورة بقره کښ تير شويدى .

أَغْنٰى وَأَقْنٰى په دے کښ ډير اقوال دى ع۱ أَغْنَاء په مطلق مال ورکولو سره او أَقْنَاء په هغه مال سره چه خزانه کيږى او ساتلے کيږى .

ع۲ أَغْنَاء په نقودو سره او اقناء په خاروو سره .

ع۳ اغناء په مالونو ډيرو سره او اقناء په خادمانو او نوکرانو ورکولو سره .

ع۴ اغناء مال ورکول او اقناء راضى کول .

ع۵ اغناء مالدارکول او اقناء فقيرکول .

ع۶ اغناء دَ ځان او اقناء فقيرکول دَ مخلوق .

رَبُّ الشِّعْرٰى . شعرى دوه دى يو شعرى العبور دے او دېته مرزم الجوزاء او شعرى يمانيه او کلب الجبّار هم ويلے کيږى او دويم قسم شعرى الغميصا او شعرى الشاميه دَ اول قسم دَ جوزاء مياشت ته روستو دَ گرمے په موسم کښ ښکاره کيږى . حمير او خزاعه قبيلو دَ اول قسم شعرى عبادت شروع کړے وو او دَ دے اوله ابتداء ابوکبشه کړے وه چه هغه دَ رسول الله دَ مور دَ طرف نه لرے نيکه وو او ماسيوا دَ خزاعه او حمير نه نورو قبيلو دَ عربو دَ هغه نه مخالفت کوو او ويل ئے چه دے صابى دے نوے دين ئے ايجاد کړے دے او دَ دے وجے نه به قريشِ مکه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته هم ابن ابى کبشه ويل يعنى دا هم دَ هغه پشان نوے دين راوړے دے او رسول الله صلى الله عليه وسلم او دَ هغه صحابو ته به دوى صابيان ويل . او دَ شعرى دَ عبادت خاص کولو وجه دوى دا سے ذکرکوله چه نور ستورى په آسمان کښ په عرض (پلن والى) باندے مزل کوى او شعرى پکښ په طول (اوگد والى) سره مزل کوى او ويل ئے چه دے په دنيا کښ تاثير کوونکے دے! خو الله تعالىٰ دَ هغوى په رد کښ اوفرمائيل چه په شعرى کښ تاثير اچولو والا او دَ هغه چلوونکے خو الله تعالىٰ دے نو شعرى مربوب دے نو تاسو دا لره معبودولے گنړئ ؟ .

وَ اَنَّهٗۤ اَهْلَكَ عَادَا۟ لْاُوْلٰى ﴿٥٠﴾ وَثَمُوْدَاۡ فَمَاۤ

او یقیناً هغه هلاک کړیدی عادیان زاړه ، او ثمودیانو نو

اَبْقٰى ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا

باقی ئې نه دي پرېښود لے هیڅوک، او تباه کړيئ قوم د نوح علیه السّلام د دوی نه مخکښ یقیناً دوی وُو

هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿٥٢﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿٥٣﴾

ډیر ظلم کوؤنکي او ډیر سرکش او مؤتفکه کلي د برے نه ئې اوغورځولو هغه،

فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكَ

نو پټ کړو هغې لره هغه څيز چه پټې ئې کړو . نو په کوم يو د نعمتونو د رب ستا بانې ے

تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾ هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ

شک کوئے . دا ډیره ورکوؤنکے دے د ډیره ورکوؤنکو

ف٥٠ ف٥١ ف٥٢ ف٥٣ ف٥٤ په دے ایاتونو کښې هم ذکر د تصرف د الله تعالیٰ دے په اهلاک د لویو قومونو سره او ورسره تخویف دنیوی دے په ذکر د عذاب د څلورو قومونو چه تکذیب د انبیاء علیهم السّلام ئې کړے وُو. الْاُوْلٰى قبیله عاد دوه وُو یو اولیٰ یعنې عادِ ارم او بل عاد ثمودیانو ته ویلے کیدلو . یا اولیٰ نه مراد هغه دی چه ډیر مخکښ تیر شویدی چه د هغوی نه وړاندے بل عاد نه وُو. اَظْلَمَ وَ اَطْغٰى دا خاص دے په قوم د نوح علیه السلام پورے یا متعلق دے په ما قبل درے واړو پورے. اَظْلَمَ په عقیده کښې او اَطْغٰى په عمل کښې یا اول په حقوقو الٰهیو کښې او دویم په حقوقو د بندګانو کښې . وَالْمُؤْتَفِكَةَ په سورة الحاقة ف٩ کښې جمع ذکر کړے ده ځکه چه ډیر کلی وُو او دلته مفرد په معنیٰ د جنس دے . مَا غَشّٰى ابهام ئې اوکړو اشاره ده ډیروالی د کاڼړو ته چه د انسانانو په شمار کښې او په علم کښې نشی راتللے . او دلته ئې پنځم قوم یعنې قوم فرعون ذکر کړے نه دے کیدے شی چه مخکښ صحف موسیٰ کښې هغه قوم ته اشاره وه نو د دے وجے نه ئې بیا ذکر نه کړو.

ف٥٥ هرکله چه مخکښ بعضے نعمتونه ذکر کړے شو (پاتے په بل مخ)

الْأُوْلَى ﴿۵۶﴾ أَزِفَتِ الْآزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ

مخکنو نه - رانژدې شو نژدې راتلونکې آفت - نیشته هغې لره سیوا

دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾ أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ

دَ الله تعالیٰ نه هیڅوک ښکاره کوونکې - آیا دَ دې خبرې نه

تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾

تاسو تعجب کوئ ، او خندا کوئ او نهٔ ژاړئ ،

نو اوس زجر ورکوی انسان مکذب ته لکه چه دا سې سورة رحمٰن کښې هم راغلې دی یا استفهام انکاری دے او عام خطاب دے یعنې کوم نعمت دَ الله کښې شک کیدے شی؟

ف۵۷ دا صفات دَ رسول دے او اشاره ده تخویف دَ منکرینو ته یعنې څنګه چه دَ مخکنو رسولانو په تکذیب کوونکو عذاب راغې نو داسې به دَ دې رسول په منکرینو هم عذاب راځي یا دنیوی یا اخروی۔ هٰذَا اشاره ده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یا اشاره ده تیر شوی ذکر دَ رسولانو او دَ قومونو دَ هغوی ته او بنا په دویمه توجیه سره نذیر مصدر دے په معنیٰ دَ انذار سره۔

ف۵۸ دا تخویف اخروی دے الْآزِفَةُ نوم دے دَ نومونو دَ قیامت نه په معنیٰ دَ الساعة او الآفة القریبة یعنې نژدې راتلونکې دے او نژدې دے خلقو ته۔

كَاشِفَةٌ اسم فاعل دے او موصوف يې حذف دے یعنې نفس كاشفة او دَ كاشفة معنیٰ ښکاره کوونکې (واقع کوونکې دے) یا په معنیٰ دَ تفصیلی بیان کوونکې یا په معنیٰ دَ لرې کوونکې دَ خلقو نه کله چه په دوی باندې راشی۔ یا كاشفة په معنیٰ دَ مصدر سره دے او اوله معنیٰ مراد ده۔

ف۵۹ ف۶۰ ف۶۱ دا زجر دے په انکار دَ قرآن سره مراد دَ حدیث نه قرآن دے او څلور قباحتونه دَ منکرینو يې ذکر کړې دی. تَعْجَبُوْنَ تعجب په طریقه دَ انکار سره دے لکه سورة یونس ف۲ او سورة ص ف۵ کښې۔ وَتَضْحَكُوْنَ دا په طریقه دَ استهزاء سره مراد دے خوشحالی مراد نه ده۔ وَلَا تَبْكُوْنَ ژړا کول په دې سره دَ نیکانو خلقو صفت دے لکه سورة اسراء ف۱۰۹ کښې دی یا مراد دَ حدیث نه خبر دَ ازفت الآزفة دے۔

وَأَنْتُمْ سَامِدُوْنَ دَ سمود معنې اعراض، غفلت، استکبار لهو ولعب کول او غزلې

وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿۶۲﴾

او تاسو غفلت کوونکی یئ. نو سجده کوئ الله تعالیٰ ته او بندګي کوئ ده ته.

شعرونه ویل په طریقه د سرودونو سره". اشاره ده چه د قرآن په مقابله کښ سرودونه ویل د کافرانو کار دے او دا جمله حالیه ده. یا جمله مستانفه مستقله ده.

۶۲ دا تفریع ده په ټول سورت باندے یعنی هرکله چه ثابت شوه چه د دے رسول دلیل وحی ده او تاسو سره صرف ظن او اتباع د هویٰ ده بیا ثابت شوه چه الله تعالیٰ انعامات کوونکے دے او رسول او قرآن ئې حق رالیږلے دی نو فرض ده په تاسو باندے چه سجده او تمام عبادات الله تعالیٰ لره خاص کړئ. اول امر ئې د سجدے اوکړو د ډیرو وجوهو نه اولا چه سجده په ټولو ارکانو د مونځ کښ ډیر اهم رکن دے. دویم دا چه د سجدے په وخت کښ الله تعالیٰ ته قربت د ډیر حاصلیږی دریم دا چه دا سجده د تلاوت ده او هغه مستقل عبادت دے.

لِلّٰهِ لام د پاره د تخصیص دے ځکه چه الله تعالیٰ ته سجده خو مشرکانو هم کوله لیکن د الله تعالیٰ نه سیوا نورو خپلو معبودانو ته ئې هم کوله.

وَاعْبُدُوْا دا تعمیم بعد التخصیص دے او لفظ د لِلّٰهِ په دے کښ هم مراد دے په قرینه د معطوف علیه سره د دے امر د ذکر کولو وجه دا ده چه صرف سجده مشرکانو هم کوله لکه چه حدیث کښ راغلی دی چه د دے سورت په تلاوت سره رسول الله صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو او مشرکانو او پیریانو ټولو سجده اوکړه لیکن نور عبادتونه ئې نه کول نو امر ورته اوکړے شو چه ټول عبادتونه الله تعالیٰ لره خاص کوئ.

ختم شو تفسیر د سورة نجم په توفیق د الله تعالیٰ سره

سورة القمر ۵۴ مکیة ۳۷	بسم الله الرحمن الرحيم	اٰیاتها ۵۵ رکوعاتها ۳

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ﴿۱﴾ وَاِنْ يَّرَوْا

ډیر نژدے شو قیامت او اوچو دله سپوږمۍ ۔ او که چرے اُوینی دوی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة القمر

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا چه مخکښ زجرونه دَ مشرکانو په عقیده او دلیل باندے نو په دے سورت کښ تخویف اخروی دے۔ دویمه وجه دا چه اول ذکر شو چه مشرکان دَ خواهش تابع داروی په عقیده کښ نو اوس ذکرکوی چه دَ وجے دَ خواهش نه دَ معجزاتو انکار کوی۔ دریمه وجه دا چه تیرشوی سورت کښ دَ اقوام مکذبو ذکر اجمالی وو نو په دے سورت کښ دَ هغوی ذکر تفصیلی دے۔ څلورمه دا چه دَ هغه سورت په اخرکښ ازفت او دَ دے سورت په اول کښ اقتربت الساعت دے۔

دعویٰ دَ دے سورت تخویف اخروی په ذکر دَ اقتراب دَ ساعت او سبب دَ تخویف تکذیب دے او هغه سبب دَ عذابونو وو په پنځه قومونو مکذبینو باندے۔ او په سورت کښ رد دَ شرک فی الدعاء او فی التصرف او ۳۹ کښ ایمان بالتقدیر ذکر دے او په هغے کښ رد دے په شرک فی البرکات باندے یعنی دَ الله تعالیٰ مقرر اندازه هیڅوک نشی بدلولے۔

خلاصه دَ دے سورت۔ تخویف اخروی سره دَ معجزے نه بیا زجر دے دَ منکرینو په ذکرکولو دَ پنځه حالتونو دَ هغوی او تخویف اخروی دے په ذکر دَ پنځه هیبتونو دَ قیامت سره بیا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ پنځه قومونو تیر شوو سره بیا زجر دے په پنځه حالاتو دَ موجوده منکرینو سره بیا تخویف اخروی دے په پنځه احوالو سره بیا ذکر دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے په پنځه طریقو سره دَ پاره دَ اثبات دَ قیامت او اخرکښ بشارت دے په پنځه طریقو سره۔

تفسیر ۱ دا تخویف اخروی دے اِقْتَرَبَتِ باب افتعال په ډیر نږدیکت باندے

ایَةً یُّعۡرِضُوۡا وَیَقُوۡلُوۡا سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ﴿۲﴾

نښه نو مخ اړوی او وائي دوی دا جادو . پوخ دے .

وَکَذَّبُوۡا وَاتَّبَعُوۡۤا اَهۡوَآءَهُمۡ وَکُلُّ اَمۡرٍ

او دروغژن گڼړی حق لره او تابعداری کوی دَ خواهشا تو خپلو او هر کار

دلیل دے اَلسَّاعَةُ نوم دے دَ نومونو دَ قیامت نه اومراد دَ دے ساعت نه فنا کیدل دَ عالم دی یا ساعت دَ بعث بعد الموت دے په شپیلۍ وهلو سره .

وَانۡشَقَّ الۡقَمَرُ دا جمله حالیه ده یعنی انشقاق دَ قمر دلیل دَے په صداقت دَ دے رسول صلی الله علیه وسلم بانَدے اوراتلل دَ دهٔ دنیا ته او له نښه ده دَ قرب دَ ساعت او دا رنګ انشقاق دَ قمر دلیل دے په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے چه دا رنګ هغه قادر دَے تول عالم په فنا کولو باندے .

او انشقاق القمر معجزه وه چه ښکاره کړے شوے وه مکے والو ته او دا حدیث امام بخاری، امام مسلم، ترمذی بیهقی او ډیرو محدثینو په صحیح اسانیدو سره ذکر کړے دے او دَ انس او ابن عباس او ابن عمر او ابن مسعود او جبیر بن مطعم رضی الله عنهم نه روایت کړے شویدے انکار کول دَ دے نه بدعتی اعتقادیه دے نو که په دے ایت کښ مفسرین نور اقوال ذکر کوی دَ دے لفظ دَ عموم دَ وجے نه نو جائز دی او که چا دَ معجزے دَ انکار دَ وجے نه نور اقوال ذکر کړے وی نو هغه مردود دے . په دَے کښ دویم قول دا دے چه فعل ماضی په معنیٰ دَ مضارع ده یعنی دَ قیامت قائم کیدلو په وخت کښ به سپو رمے اوچوی دریم قول دا دے چه خه ښکاره شوحال دَ صداقت دَ دے پیغمبر. لیکن دوستوایاتو هم ښکاره دلالت کوی چه دلته بحث دے په باره دَ معجزه کښ .

۲ دَ دے ایت نه تر ۸ پورے زجرونه دی او دَ منکرینو پنځه حالات ذکر کوی په دے ایت کښ زجر دے او دَ منکرینو دوه حالتو نه ذکر کړے دی .

مُّسۡتَمِرٌّ په دے لفظ کښ دَ اختلاف دَ مادے دَ وجے نه ډیر اقوال دی .

دَ مِرَّة نه په معنیٰ دَ قوی محکم سره دے دَ مرور نه په معنیٰ دَ زائل کیدونکے او ختم کیدونکے سره دے دَ مرارة نه په معنیٰ دَ تریخ والی سره دے یعنی ډیر تیز اثر کوونکے دے دَ اِسۡتِمۡرَار نه دَ دوام او همیش والی په معنیٰ سره دے . (پاتے په بل مخ)

مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْبَآءِ مَا فِيهِ

په یو وخت کیدونکے دے. او یقیناً راغلی دے دوی ته دَ خبرونو نه هغه چه په هغې کښ

مُزْدَجَرٌ ﴿٤﴾ حِكْمَةٌ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿٥﴾

پوره زورَنه دی ، پخه خبره انتها ته رسیدونکی دی نو څه فائده به ورکړی ویره ورکوونکی .

او دا رنګ په معنیٰ دَ مشابه دَ یو بل سره او په معنیٰ دَ تیریدونکے دَ زمکے نه اسمان ته.

۳ په دے کښ هم دَ منکرینو دوه حالتونه په زجر سره ذکر دی. كَذَّبُوْا
یعنی دوی اویل چه دا انشقاق دَ قمر دلالت نه کوی په صداقت دَ دے نبی باندے.
وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ یعنی دوی اویل چه دا سحر دے یا دا نظر بندی ده.
مُّسْتَقِرٌّ یعنی قیامت به په خپل وخت قائم کیږی او جنت والا به په جنت کښ او جهنم
والا به په جهنم کښ قرارے اوموهی یا مراد استقرار ته واقع کیدل دَ هر څیز دی په خپله
نیټه مقرره باندے.

۴ دا هم زجر دے چه دوی ته دَ دے معجزے نه مخکښ هم انباء راغلے دی او دوی
ترینه انکار کړے دے او ترغیب دے قرآن ته.
مُزْدَجَرٌ مصدر میمی دے او دال بدل دے دَ تا نه او مادہ دَ دے زجر دے یعنی منع
کول دَ دوی دَ کفر او شرک او تکذیب ته.

۵ مراد دَ دے نه قرآن دے او خبر دے دَ مبتدا محذوف یعنی هو حکمة یا
بدل دے دَ حرف دَ ما نه په تیر شوی ایت کښ. بَالِغَةٌ یعنی انتها ته رسیدلے
دے په مواعظو او دلیلونو او لطائفو او احکامو او فصاحت و بلاغت کښ.
فَمَا تُغْنِ ما نافیه او استفهامیه دواړه کیدے شی تُغْنِ په اصل کښ تغنی دے یاحذف
کړے شوے دے په رسم خط دَ قرآن کښ اګرچه دَ دے دَ حذف کیدلو ظاهری
سبب نیشته او په دے کښ اشاره ده لکه چه دَ دے لفظ دَ اخر نه یاحذف شوے
ده داسے دَ دے خلقو نه فائده دَ انذار ختم شوے ده او په دے جمله کښ
زجر دے او پنځم حالت دَ دوی ذکر کوی.
النُّذُرُ مصدر دے په معنیٰ دَ انذار یا جمع دَ نذیر ده او دَ دے مثال په سورة
یونس ۱۰۱ کښ تیر شوید ے.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ ۘ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ

نو مخ واړوه دَ دوی نه په هغه ورځ کښې چه آواز به اوکړی آوازکوونکے یو څیز

نُّكُرٍ ﴿٦﴾ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ

ناکاره ته (سخت) کوزے به وی سترګے دَ دوی راا اوځی به دوی دَ

الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ﴿٧﴾ مُّهْطِعِينَ

قبرونو نه ګویا که دوی ملخان دی خواره واره ، منډے به وهی

إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴿٨﴾

آوازکوونکی طرف ته وائی به کافران دا ورځ سخته ده -

۳ تر ۸ هرکله چه دَ منکرینو قبائح ذکر شول نو اوس په حرف دَ فا سره تفریع ذکرکوی او تسلی ورکوی رسول صلی الله علیه وسلم ته او مراد په دے سره دَ دوی نه بے پرواه کیدل دی - يَوْمَ يَدْعُ دَ دے نه تخویف اخروی ذکرکوی په بیان دِ پنځه حالتونو سره - دَ يَوْمَ نه مخکښې لفظ دَ اذکر پټ مراد دے الدَّاعِ نه مراد اسرافیل علیه السلام دے او دَ دعوت نه مراد شپیلئ وهل دی دَ پاره دَ بعث بعد الموت - شَيْءٍ نُّكُرٍ په دے کښې حشر، حساب، میزان ټولو حالتونو ته اشاره ده - خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ ذلت او عاجزی دَ سترګو نه معلومیږی چه دَ شرم نه خکته ګوری دَ دے وجے نه دَ أَبْصَارُ تخصیص ئے اوکړو لکه په سورة قلم ۴۳ او سورة شوریٰ ۴۵ کښې ذکر دی -
جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ تشبیه دَ ملخانو سره په ډیر والی کښې او جمع کول دَ لویو وړو کښې مُّنتَشِرٌ کښې اشاره ده چه په صفونو او قطارونو سره به نه وی -
فائده :- سورة القارعه کښې تشبیه دَ پتنګانو سره ده او دلته دَ ملخانو سره نو په دے کښې دوه حالتونو مختلفو ته اشاره ده الحال دا چه دَ قبرونو نه راوځی نو اول به ډیر پریشان وی نو ورتللو طرف به ورته معلوم نه وی لکه چه دَ پتنګانو یو طرف ته دے او لګ وخت روستو به په یو طرف (دَ داعی) باندے راشی لکه ملخان چه په یو طرف باندے الوځی مُّهْطِعِينَ په دیکښې ډیرے معانی دی ، تیز تلونکی ، سترګو نه اوچتوونکی ، قصد کوونکی ، سیده نظر کوونکی ، غوږونه دَ پاره دَ آورید لو کېښودونکی - او دا یو بل ته نژدے معانی دی - هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ لکه سورة فرقان ۲۶ او سورة مدثر ۹ ، ۱۰ کښې دی -

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا

تکذیب کړے وو د دوی نه وړاندے قوم د نوح علیه السلام نو دروغژن ئے اوګڼلو بنده زمونږ

وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَّازْدُجِرَ ⑨ فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي

او دوی اوویل لیونے دے او اوزورلے شو . نو دُعا ئے اوغوښتله د رب خپل نه چه یقیناً زه

مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ ⑩ فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ

کمزورے یم نو ته بدله واخله د دوی نه . نو را پرانستلی مونږ دروازے د آسمان

سـ۹ د دے ایت نه پنځه واقعات ذکر کوی د پاره د تخویف دنیوی یعنی تکذیب د قیامت سبب د عذاب دے نو دا متعلق دے د سـ۳ سره . کَذَّبَتْ دا اوله واقعه ده د قوم د نوح علیه السلام .

كَذَّبَتْ، فَكَذَّبُوا دوه کرته ئے تکذیب ذکر کړو اشاره ده کثرت د تکذیب او استمرار ته یا د اول نه مراد تکذیب د توحید او د قیامت دے او دویم نه تکذیب د رسالت د هغه دے .

وَازْدُجِرَ دا د زجر نه ماخوذ دے او دال په اصل کښ تا وه د تاکید او مبالغے د زجر د پاره صیغه د باب افتعال او صیغه د فعل مجهول ئے ذکر کړے ده او دا عطف دے په قَالُوا باندے نو دا قول د الله تعالیٰ دے یعنی دوی منع کړے وو هغه لره د دعوت کولو نه لکه په سورت شعراء سـ۱۱۶ کښ دی یا عطف دے په مجنون باندے او قول د منکرینو دے یعنی جناتو د دهٔ دماغ خراب کړے دی .

سـ۱۰ دا اجمالی دُعا ده او تفصیلی دعا د هغه په سورت نوح کښ ذکر کړے ده .

مَغْلُوبٌ سوال :- دا خلاف دے د سورة مجادله سـ۲۱ او سورة صافات سـ۱۷۳ ته ؟

جواب :- دا دے چه دعا ئے تو نه روستو د نصرت د الله تعالیٰ نه دی او په دے کښ مخکښ د نصرت نه مغلوبیت مراد دے .

دویم جواب دا دے چه په هغه ایاتو کښ غلبه د حجت او د دلیل مراد ده او په دے ایت کښ غلبه د قوت او د زور مراد ده او دریم جواب ابن عطیه کړے دے چه مغلوب نه مراد دا دے چه دُعاء شر غوښتلو کښ مجبور یم .

بِمَآءٍ مُّنۡهَمِرٍ ﴿۱۱﴾ وَّفَجَّرۡنَا الۡاَرۡضَ عُيُوۡنًا فَالۡتَقَى

په اوبو رابهيدونکو سره - او را او بستلے مونږ دَ زمکے نه چينے نو یو ځائے شوے

الۡمَآءُ عَلٰٓى اَمۡرٍ قَدۡ قُدِرَ ﴿۱۲﴾ وَحَمَلۡنٰهُ عَلٰى

ټولے اوبه په هغه کار چه مقرر کړے شوے وُو - او سور کړو مونږ دهٔ لره په

ذَاتِ اَلۡوَاحٍ وَّدُسُرٍ ﴿۱۳﴾ تَجۡرِىۡ بِاَعۡيُنِنَا ۚ جَزَآءً

(کشتۍ) تختو والا او میخونو والا، روانه وه په سترګو زمونږ بدل اخستل دَ

لِّمَنۡ كَانَ كُفِرَ ﴿۱۴﴾ وَلَقَدۡ تَّرَكۡنٰهَاۤ اٰيَةً فَهَلۡ

دَپاره دَ هغه چا چه ناشکری کړے شوے وه - او یقیناً پریخودله مونږ دغه قصه نښه نو آیا

۱۱-۱۲ په دے کښ قبولیت دَ دُعا ته اشاره ده اَبۡوَابَ السَّمَآءِ په حقیقت باندے حمل دے چه دا اوبه ئے دَ اسمان نه را اورولے یا کنایه ده دَ ډیرو وریځو نه۔ مُّنۡهَمِرٍ چه ډیرے وی او په تو یونو سره رابهیږی الۡاَرۡضَ مراد دَ دے من الارض دے لیکن دَ مبالغے دَپاره ئے مِنۡ حذف کړے دے فَالۡتَقَى الۡمَآءُ مراد دَ دے نه جنس ماء دی یعنی اوبه دَ اسمان او دَ زمکے ځکه چه التقاء په مینځ دَ دوؤ یا ډیرو کښ راځی۔
عَلٰٓى اَمۡرٍ قَدۡ قُدِرَ، اَمۡرٍ نه مراد مقدار دَ اوبو دے یا مراد دَ دے نه حال دے یعنی هلاکت دَ دغه قوم چه په تقدیر کښ دَ مخکښ نه لیکلے شوے وُو چه دوی به په دا سے طوفان سره تباه کولے شی او دا اشاره ده مسئلے دَ تقدیر ته۔
۱۳-۱۴ په دے کښ طریقه دَ نجات دَ نوح علیه السّلام او دَ هغه دَ ملګرو مراد ده۔
دُسُرٍ جمع دَ دسار ده هغه څیزونه چه په هغے سره کشتۍ کلکیګی میخونه، اوسپنه، لرګی، رسے ګانے وغیره۔ او دا رنګ سینه دَ کشتۍ چه په هغے سره اوبه دفع کیږی او شلیګی۔ بِاَعۡيُنِنَا دا دَ متشابهاتو نه دے او اشاره ده حفاظت ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه۔ جَزَآءً لِّمَنۡ كَانَ كُفِرَ دَ مَنۡ نه مراد نوح علیه السّلام دے چه دَ هغه نه انکار کړے شویؤ او هغه ډیر صبر کړے وُو نو جزاء په معنیٰ دَ ثواب یا دَ بدله اخستلو ده یا مراد دَ دے نه الله تعالیٰ دے چه دَ هغه دَ احکامو نه کفر کړے شوے وُو او جزاء په معنیٰ دَ عقاب او سزا ده او لام په معنیٰ دَ مِن سره دے۔

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۵﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۱۶﴾

شته څوک نصیحت قبلونکے. نو څه رنګ شو عذاب زما او ویرول زما.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۷﴾

او یقینًا آسان کړے دے موږ قرآن دپاره د نصیحت اخستلو آیا شته دے څوک نصیحت قبلونکے.

۱۵ ۱۶ ۱۷ په دے آیاتونو کښ تنبیه ده دپاره د نصیحت اخستلو د واقعے د نوح علیه السلام نه په عذاب د منکرینو او په نجات د مؤمنانو. تَرَكْنٰهَا دا ضمیر راجع دے قصے ته یا راجع دے کشتۍ ته او په دوېم احتمال سره مراد د کشتۍ نه امثال د هغے دی لکه په سورة یٰس ۴۲ کښ دی یا هغه کشتۍ چه د دے امت مخکنو خلقو لیدلے وه او روستو هم د هغه کشتۍ تختے په کوهستان ارارط کښ لیدے شویدی. مُّدَّكِرٍ دا صیغه د اسم فاعل ده د باب افتعال نه په اصل کښ مذتكر وو تا په دال سره بدل شوه بیا ذال په دال کښ مدغم کړے شو او په دے تبدیل او ادغام کښ اشاره ده مبالغے ته په نصیحت اخستلو هغه دا چه په ځان کښ انقلاب پیدا کړی په عقیده او عمل کښ پښان د تبدیلے د دے صیغے. فَكَيْفَ دا استفهام تقریری دے سره د تعظیم نه. عَذَابِىْ وَنُذُرِ اول دپاره د منکرینو د قوم نوح علیه السلام او دوېم دپاره د روستو خلقو او نذر مصدر دے په معنیٰ د انذار سره دے.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ مراد د ذکر نه نصیحت اخستل دی او آسانتیا دا ده چه واقعات د تیر شوو قومونو او رسولانو په آسان لفظونو سره بار بار په مختلفو طریقو سره ذکر کړے شوے دی چه هر ذی لسان (رچه په عربۍ ژبه پوهیږی) هغه تربیه نصیحت اخستلے شی او دا آیت ئے د ټولو قصو سره ذکر کړے دے اشاره ده چه هره قصه د دے قصو نه د تذکر دپاره آسانه کړے شویده. نو د الْقُرْاٰنَ نه مراد هره قصه ده چه د قرآن په عبارت سره لوستلے کیږی. یا مراد د ذکر نه حفظ دے ځکه د سلف صالحینو نه نقل دی چه تورات انجیل او زبور سیوا د انبیاء علیهم السّلام نه امتیانو په یادو سره نه شو یاد کولے دا د قرآن کریم خصوصیت دے چه واړه لوئے او نارینه زنانه ئے ټول یا بعضے سورتونه او آیاتونه یادولے شی. لکه سورة عنکبوت ۴۹ کښ تیر شوے دی.

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿١٨﴾

تکذیب کړے وو عادیانو نو څه رنګه وو عذاب زما او ویره ول زما۔

إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِىْ يَوْمِ

یقیناً را اولیږله مونږ په دوی باندے سیلئ تیزه په ورځ

نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ

سپیره همیشه کښ ، را ښکل ئے خلقو لره ګویا دوی دی

أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ

تنے د کجورو د بیخه وتلے شوے۔ نو څه رنګ وو عذاب زما

ف۱۸ دا دویمه واقعه ده چه قوم عاد د هود علیه السّلام تکذیب کړے وو هر کله چه
د تکذیب د قوم نوح اوګده زمانه وه نو هغه تکذیب ئے مکرر ذکر کړے وو تو د
عادیانو تکذیب د هغوی په نسبت سره لګه زمانه وه نو مختصر ذکر ئے اوکړیشو۔
اوکذبت ئے مؤنث ذکر کړے ځکه چه قبیله د عادیانو مراد ده او اشاره ده د دوی
توهین او تذلیل ته۔
ف۱۹ تا ۲۰ دا تفصیل د عذاب د عادیانو دے او دا سے په سورة حٰمٓ سجده ف۱۶ کښ هم
تیر شوے دے۔ صَرْصَرًا تیز آواز (شغار) والا یا سخته یخه یا ډیر وخت چلیدونکے
سیلئ۔ یَوْمٍ هغه اووه شپے او اته ورځے وے لکه په سورة الحاقه ف۷ کښ دی نو دلته
د یوم نه مراد جنس ورځ یا مطلق وخت مراد دے۔ نَحْسٍ نحوست ئے په دوی
پورے خاص وو د دوی د عذاب د وجے نه۔ مُّسْتَمِرٍّ یعنی د دے عذاب اثر تر
برزخ پورے او بیا حشر پورے همیشه دے۔ او د نحوسته د ورځ د شورو (چارشنبه)
په باره کښ حدیث صحیح مرفوع متصل ثابت نه دے۔
تَنزِعُ النَّاسَ په دیکښ اشاره ده چه دوی دا سے مضبوط وو او را ویستلے شول
لکه چه اونه په جړو سره په زمکه کښ کلکه اولاړه وی او بیا د جړو سره د ویخ
نه را اوویستلے شی۔ أَعْجَازُ نَخْلٍ عَجُزٌ د څیز د پسنی لاندے حصے ته ویلے
کیږی نو په دے کښ اشاره ده چه د هغوی نه سرونه جدا شول او په سیلئ سره
والوتل او صرف ویخونه پاتے شول۔ نَخْلٍ دا لفظ اسم جمع ده (یا ئے په بل مخ)

وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ

او ډېر وَل زما۔ او يقيناً آسان کړی دے موږ قرآن دَ پاره دَ نصيحت نو آيا

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۲۲﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِالنُّذُرِ ﴿۲۳﴾

شته دے نصيحت قبلوونکے۔ دروغژن گڼړلے وو ثمود يا نو ويره ورکوونکو لره۔

فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗٓ اِنَّآ اِذًا لَّفِيْ

نو دوی اوويل آيا يو بنده لره چه زموږ نه دے تابعداری دَ اوکړو دَ هغه يقيناً موږ به دغه وخت کښ

ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۲۴﴾ ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْ

گمراهئ او ليونتوب کښ يو۔ آيا راليږلے شو يه وحی په دهٔ باندے دَ

بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾ سَيَعْلَمُوْنَ

مينځ زموږ نه بلکه دے دے ډير دروغژن لوئے کوونکے۔ زر دے دوی ته به معلوم شی

مذکر او مؤنث دواړه استعماليږی دَ دے وجے نه دَ دے صفت کله مذکر او کله مؤنث راځی۔

۲۱ تا ۲۲ په دے قِصّه کښ ئے اوله جمله مکرره راوړے ده دَ پاره دَ اظهار دَ عظمت دَ عذاب دَ دوی يا اول ئے ذکر کړے دے دَ سبب (تکذيب) سره او دويم ئے ذکر کړو روستو دَ تفصيل دَ عذاب نه دَ پاره دَ نصيحت اخستلو۔

۲۳ دا دريمه قِصّه ده نُذُرِ جمع دَ نذير په معنیٰ دَ رسول نو ځکه چه تکذيب دَ يو رسول پشان دَ تکذيب دَ ټولو رسولانو دے لکه سورة شعراء ۱۰۵ کښ تير شويدی يا نذير په معنیٰ دَ مصدر دے هغه انذارات ته رسيته مراد دی چه صالح عليه السّلام وخت په وخت دوی ته بيان کړے وو۔

۲۴ تا ۲۵ دا تفصيل دَ تکذيب دَ هغوی دے او اوو تعبيرونه دَ تکذيب دی اول دا چه دے بشر دے دَ جنس زموږ نه، دويم دا چه وَاحِدًا يعنی په مقابل کښ ډير خلق دی او دے يواځے دے، دريم دَ دهٔ تابعداری سبب دَ ضلال دے، څلورم دا چه سبب دَ ليونتوب دے په دنيا کښ او سبب دَ اور دَ جهنم دے په آخرت کښ۔

پنځم ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْ بَيْنِنَا يعنی موږ دَ دهٔ نه مالدار او غوره يو نو دے ولے

غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُوا

صبا چه څوک دے ډیر دروغژن لوئی کوونکے - یقیناً موږ لیږونکی یو

النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾

او ښه د پاره د ازمائش د دوی نو انتظار اوکړه د دوی او صبر اوکړه -

وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ

او خبر ورکړه دوی لره چه اوبه تقسیم ری د دوی په مینځ کښ هر

شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَى

نمبر د اوبو ته به حاضری کیدلے شی - نو دوی آواز ورکړو خپل مشرته نو را واخستله ئے توره

خاص کړے شو په وحی سره شپیرم دے کذاب دے اووم دا چه اشر دے اشر تکبر کوونکے او بے پرواهٔ سره خیرے کوونکی ته وائی -

س۲۶ دا زجر او تخویف دے غَدًا مراد د دے ته راتلونکے وخت دے یعنی عذاب د دنیا یا ورځ د قیامت -

س۲۷ نه ۲۸ دا ذکر د معجزے دے د پاره د اثبات د صدق د صالح علیه السلام فِتْنَةً امتحان د ے چه په هغې سره د مصدّق او د مکذب فرق معلومیږی او دا رنګ تکذیب د دے په سبب د عذاب وی - وَاصْطَبِرْ باب افتعال کښ اشاره ده تاکید د صبر کوولو ته او هر کله چه ارتقاب (انتظار) کول ډیر وخت ګوارې او په ډیر وخت کښ د دشمنانو د طرف نه مصیبتونه هم ډیروی د دے وجے نه ارتقاب نه روستو ئے امر د اصطبار ذکر کړو -

وَنَبِّئْهُمْ دا هم طریقه د فتنے (امتحان) ده او طریقه د دے تقسیم سورة شعراء ۱۵۵ کښ ذکر شویده او د دے تقسیم یو وجه داده چه اوبه لږ دے په یو ورځ د تاقے او د نورو حیواناتو ته رسیدلے دویمه وجه داده چه د دوی حیوانات په د هغه تاقے نه ویریدل د هغې سره یو ځائے کیدلے نه شو -

كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ دا هم دلالت کوی په دویمه وجه یا ندے چه هر یو به خپل نمبرته حاضری کوی د بل په نمبر کښ شرکت نه شی کولے -

فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ إِنَّا

نو قتل ئې کړه (اوښه) نو څه رنګ وو عذاب زما او ویره وَل زما - یقیناً

أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَاحِدَةً فَكَانُوا

مونږ را اولیږله په دوی باندے چغه یوه نو شول

كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ

پشان د ذرے ذرے شوی شپیول د شپول جوړوونکی - او یقیناً آسان کړے دے مونږ قرآن

لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ

د یاد د نصیحت آیا شته دے څوک نصیحت قبلوونکے - دروغژن کړے وو قوم

۲۹ تا ۳۰ په دے کښ ذکر د سبب د عذاب د هغوی دے فَنَادَوْا په دے کښ اشاره ده چه دوی په دے سبب کښ شریک وو د یو بل سره ئې مدد کوو. صَاحِبَهُمْ او هغه ته اشقیٰ ویلے شوید ے په سورة الشمس ۱۲ کښ او مشهور دے په قُدار حُوَئے د سالف سره -

فَتَعَاطَىٰ زړه ورتیا ئې اوکړه په نیولو د اوښے سره یا دهٔ اونیوله تورے لره د یارهٔ د پکړے کولو د هغه اوښے.

فَكَيْفَ د دے ته وړاندے فَعَاقَبْهُمْ پټ دے (یعنی دوی له ما سزا ورکړه) او دا تپوس د یارهٔ د عظمت د عذاب دے.

۳۱ تا ۳۲ دا تفصیل د عذاب د هغوی دے. كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ محتظر د حظیرة نه ماخوذ دے او حظیرة هغه ځائے ته ویلے کیږی چه راګیر کړے شی په شپیول د غنو یا په دیوال سره او محفوظ وی او اکثر د ګډو بیزو جاړے ته ویلے کیږی نو محتظر د هغے جوړوونکی ته ویلے شی.

هَشِيمِ د هشم نه دے او هشم ماتول او ذرّے ذرّے کولو ته ویلے کیږی نو هشیم په معنیٰ د مهشوم سره دے یعنی هغه اوچے غنے د شپیول د جاړے چه ګډے بیزے ئې په خپلو خپو سره ذرّے ذرّے کړی - په دیکښ اشاره ده چه په دغه چغه د عذاب سره د دوی اډوکی پوره اوچ شول او بیا د یو بل نه جُدا جُدا شول.

لُوْطٍۢ بِالنُّذُرِ ﴿۳۳﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا

دَ لوط علیه السلام ویره ورکوونکی. یقیناً را اولیږلو مونږ په دوی بانده باران دَ کا ڼو

اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ۭ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿۳۴﴾ نِّعْمَةً مِّنْ

سیوا دَ کورنئ دَ لوط علیه السلام نه. بچ کړل مونږ هغوی په وخت دَ پیشمنی کښ، دَ وجه دَ احسان دَ طرف

عِنْدِنَا ۭ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ شَكَرَ ﴿۳۵﴾ وَلَقَدْ

زمونږ نه دغه شان بدله ورکوو هغه چاته چه شکر کوی. او یقیناً

اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿۳۶﴾

ویره ئے ورکړے وه دوی ته دَ نیولو زمونږ نه نو دوی شک اوکړو په ویرولو کښ.

وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ

او یقیناً دوی غوختنے کړے وے دَ هغه نه په بارة دَ میلمنو دَ هغه کښ نو ورانے کړے مونږ سترګے دَ هغوی

۳۳ تا ۳۴ ۳۵ داځلورمه قصه ده دَپاره دَ تخویف دنیوی په سبب دَ تکذیب سره بِالنُّذُرِ هغه امور مراد دی چه په هغے سره دَ دوی انذار کړے شوے وؤ یا داجمع دَ نذیر ده مراد دَدے نه رسولان دی ځکه چه تکذیب دَیو رسول پشان دَ تکذیب دَ ټولو رسولانو دے۔ اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ دا استثناء منقطع ده ځکه چه په دوی بانده عذاب نه وؤ نازل شوے او دَدوی درے حالتونه ذکر کوی اول نجات دویم نعمت دریم جزا دَ شکر کولو بِسَحَرٍ دَ شپے اخری شپږمے حصے ته ویلے شی او دغه وخت دَ ذکر کولو دے او دا ئے نکره ذکر کړے ده اشاره ده چه هغه شپه مونږ ته معلوم نه ده نو سحرهم معلوم نه دے۔ نِعْمَةً اشاره ده چه دَ دوی نجات دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه احسان وؤ په الله تعالیٰ بانده دَ هغے هیڅ زور نه وؤ نو دا دلیل دے چه جزا دَ نیک اعمالو په الله تعالیٰ بانده واجب نه ده لکه چه معتزله داسے وائی۔

مَنْ شَكَرَ مراد دَ شکر نه توحید او پوره اطاعت دے او دا سبب دَ نجات دے په هر زمانه کښ دَ دے وجے نه كَذٰلِكَ ئے اوفرمائیل۔

۳۶ تا ۳۷ ۳۸ په دے کښ درے حالات دَ منکرینو ذکر کوی۔ وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ په یکښ دَفع دَ عذاب دَ منکرینو ده فَتَمَارَوْا دا دَ دوی اول حال دے ریاتے په بل مخ)

فَذُوۡقُوۡا عَذَابِیۡ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدۡ صَبَّحَهُمۡ

نو اوڅکئ عذاب زما او ویرول زما ۔ او یقیناً صبا راغی دَ

بُكۡرَةً عَذَابٌ مُّسۡتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ فَذُوۡقُوۡا عَذَابِیۡ

وختنه په دوی باندے عذاب چه همیشه ووُ ۔ نو اوڅکئ عذاب زما

وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ وَلَقَدۡ یَسَّرۡنَا الۡقُرۡاٰنَ لِلذِّكۡرِ

او ویرول زما ۔ او یقیناً آسان کړے دے مونږ قرآن دَپاره دَ نصیحت

فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ وَلَقَدۡ جَآءَ اٰلَ فِرۡعَوۡنَ

آیا شته څوک نصیحت قبلوونکے ۔ او یقیناً راغلی ووُ فرعونیانو ته

او دَ مریة نه ماخوذ دے په معنیٰ دَشک کولو یا دَ مِراءٌ نه دے په معنیٰ دَ جګړے کولو. وَلَقَدۡ رَاوَدُوۡهُ دا دویم حال دے. ضَیۡف اسم جنس دے په معنیٰ دَ جمع سره دے او مراد دَ دے نه ملائک دی او دا دَ دوی لوئے خباثت ووُ. ابن کثیر ذکر کړیدی چه جبریل میکائیل او اسرافیل په شکل دَ ښائسته ځوانانو کښی راغلل نو شیخ دَ لوط علیه السّلام هغه قوم له خبر ورکړو نو هغوی راغلل دَ لوط علیه السلام ته دَ هغه میلمنو طلب ئې شوروکړو دَپاره دَ بد فعلے کولو نو هغه دروازه بنده کړه نو دوی اراده اوکړه چه هغه دروازه ماته کړی نو جبریل علیه السّلام طرف دَ وزر دَ دوی په مخونو باندے راکاږلو نو سترګے دَ دوی بندے شوے. فَذُوۡقُوۡا دا خطاب دے دوی ته په ژبه دَ ملائکو سره یا دا امر په معنیٰ دَ اخبار سره دے یعنی اَذَقۡتُهُمۡ (او څکولو ما دوی ته) او تعبیر په لفظ دَ ذوق (څکلو) سره اشاره ده د رد دَ عذاب ته چه دَ دوی په ټول بدن باندے احاطه ئې اوکړه وَنُذُرِ مراد دَ دے نه تاوان او ناکاره عاقبت دَ انذار دے. وَلَقَدۡ صَبَّحَهُمۡ دا دریم حال دَ دوی دے هرکله چه صباح راتلونکے ټولے ورځے ته هم ویلے کیږی نو بُكۡرَةً ئې اوفرمائیل چه صبا وختی ترینه مراد دے. مُّسۡتَقِرٌّ دوام او همیش والے دَ عذاب دا دے چه په دغه عذاب سره هلاک شول او ورپسے متصل عذاب دَ برزخ دے او په هغې پسے متصل عذابونه دَ جهنم دی چه دَ هغې انتها نیشته.

ف ۳۹ اوله جمله (فذوقوا) دَ عذاب دَ طمس سره متعلق ده او دا جمله دَ عذاب مستقر سره متعلق ده چه هغه په ټولو بدن باندے احاطه کوونکے عذاب ووُ زمکه

النُّذُرُ ﴿٤١﴾ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ

ويره وركوونكي - دروغژن اوګڼل دوی ايا تونه زمونږه ټول نو اونيول مونږ دوی

اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٤٢﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ

په نيولو د زورور او د ذات چه پوره قدرت والا دے - آيا كافران ستاسو د زمانے غوره دی

اهول - چغه - کاتړی راوریدل - وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الخ د دے په تکرار کښ اشاره ده چه هره يوه قصه د دے قصو نه د عبرت او نصيحت اخستلو د پاره کافی ده او اسانه ده -

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ کښ اشاره ده چه دلته نصيحت قبول کړی چه په هغے سره د عذاب د تير شوی منکرينو نه بچ شی - معلومه شوه چه سبب د بچ کيدلو د عذاب نه صرف تذکر د قرآن دے -

۴۱-۴۲ په دے کښ پنځمه واقعه ذکر کوی د هلاکت د فرعونيانو په سبب د تکذيب سره - په اول ايت کښ په دوی باندے الزام حجت ذکر کوی په راليږلو د منذرينو سره او په دويم ايت کښ سبب د عذاب او بيا ئے عذاب ذکر کړے دے - النُّذُرُ مراد ترينه موسیٰ او هارون عليهما السلام دی او د جمع اطلاق په تثنيه باندے کيدے شی يا مراد د دے نه انذارات دی - كَذَّبُوا په واو عاطفه سره نه دے ذکر کړے ځکه چه په اوله جمله او دويمه کښ په مضمون کښ مخالفت دے او په فاء سره هم نه دے ذکر کړے ځکه چه اول سبب د دويم نه دے - بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا مراد د دے نه هغه نهه معجزات دی چه په سورة اعراف کښ ذکر شوی دی - عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ په دے کښ اشاره ده چه فرعون د ځان د پاره د عزت او اقتدار دعویٰ کوله ليکن هغه دعویٰ باطله وه ځکه چه مغلوب او تباه شو نو معلومه شوه چه عزت والا (غالب) قدرت والا صرف الله تعالیٰ دے -

فائده:- پدے قصه پسے ولقد يسرنا القرآن الخ نه دے ذکر کړے ځکه چه د مخکنو خلورو قومو نو نه هيڅوک نه دی پاتے شوی نو د هغوی قصے صرف تاريخ او کړځيدلے چه د قرآن کريم نه په اسانه سره معلوميږی او د قوم د موسیٰ عليه السلام نه بنی اسرائيل پاتے وو چه هغوی د هلاکت د فرعون اقرار کوو د هغے د تفصيل او د تذکير د پاره د کتاب ضرورت نيشته (والله اَعْلَمُ بِمَا فِیْ كِتَابِهٖ) -

أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿۴۳﴾ أَمْ يَقُولُونَ

دَ دغه تیرشوي کافرانو نه آیا ستاسو کافران غوره دي یا ستاسو لره بچ والے دَ عذاب نه په کتابونو کښې. بلکه دوی وائي

نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿۴۴﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ

مونږ ټوله ډله یو بدله اخستونکي. زر دے شکست به ورکړے شي دے ډلے ته

وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿۴۵﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ

او دوی به اوګرځوي شاګانے. بلکه قیامت وخت مقرر شوے دَ دوی

۴۳ تا ۴۵ په دے آیاتونو کښې دَ روستنو منکرینو پنځه حالات ذکر کوي او حاصل دا دے چه په مخکنو قومونو دَ عذابونو ذکر تاسو واوریدلو نو په دے موجود و بانے دے دَ عذاب دَ راتللو سبب خوښته چه کفر دَ دوی دے لیکن دَ عذاب دَ راتللو نه هیڅ مانع نیشته په اول آیت کښې نفی دَ دوه موانعو ذکر کړے ده یا به دوی دَ مخکنو نه غوره وی یا به په مخکنو کتابونو منزلو کښې دَ دوی دَ پاره براءت (امن دَ عذاب) ذکر کړے شوے وی لیکن دا دواړه خبرے نیشته او استفهام انکاری دے. خَيْرٌ مراد دَ خیریت نه قوت دَ مال او دَ بدنونو او دَ حکومت دے. او په دویم آیت کښې یو مانع په طریقه دَ زجر سره ذکر کړے دے یعنی دوی وائي مونږ غټ جماعت یو او دَ دشمن نه بدله اخستلے شو آیا دَ دے وجے نه په دوی عذاب نشی راتللے نو دَ دے ګمان رد په دریم آیت کښې دے په دوه طریقو سره اول هزیمت (شکست) دَ دوی دویم شاګانے ګرځول یعنی عاجز کیدل دَ مقابلے نه. جَمِيعٌ په معنی دَ جماعت سره دے مبالغه ده په جمع او یو ځائے کیدلو کښې دَ یو بل سره چه په هیڅ طریقے سره نه جدا کیږی او دا دَ دوی دعویٰ وه لکه فرعون چه دعویٰ کړے وه سورة شعراء ۵۶ کښې. سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ په لفظ دَ الجمع کښې رد دے دَ دوی په دعویٰ باندے یعنی جماعت دے لیکن دَ یو بل سره دا سے انضمام نیشته چه دَ یو بل نه نه جدا کیږی بلکه قلوبهم شتّٰی. او په دے کښې تخویف دنیوی دے په طریقه دَ پیشنګوئي سره او دا پیشنګوئي په ورځ دَ بدر کښې رښتیا شوله لکه حدیث بخاری کښې راغلے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په ورځ دَ بدر په قبه (دَ څرمنے خیمه) کښې وو او دعا ئے اوغوښتله چه یا الله غواړم ستا عهد او وعده اے الله که ته غواړے چه ستا بندګی دِ او نه شی دَ نن نه روستو هیچرے، نو ابوبکر رضی الله عنه دَ هغه لاس اونیوو

وَالسَّاعَةُ أَدْهٰى وَأَمَرُّ ﴿۴۶﴾ إِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِيْ

او قیامت ډیره هیبت ناک او ډیر ترخه ده. یقیناً مجرمان په

ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۴۷﴾ يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِي النَّارِ عَلٰى

ګمراهۍ او په اورګنو دي. په هغه ورځ چه را ښکلے کیږي په دوزخ کښې په

وُجُوْهِهِمْ ؕ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿۴۸﴾ إِنَّا كُلَّ

مخونو خپلو باندے او ویلے به شي خوند د سقر (سوځیدلو). یقیناً مونږ هر

اواول ئې پوره ده تالره اے رسول د الله تعالیٰ او ډیر ډاکښې ډیر زور او کړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم را اوتلو تو پونه ئې وهل (خوشحالیدلو) په زغره کښې او دا ایت ئې اولوستلو سيهزم الجمع ويولون الدبر او ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دے چه د دے ایت د نزول نه تر واقعے د بدر پورے اُوه کاله فاصله وه.

۴۶ ۴۸ په دے ایاتونوکښې تخویف اخروی دے په اول ایت کښې خاص د بدر مشرکانو د پاره او روستو دوه ایاتونوکښې د ټولو مجرمانو د پاره او دا تخویف هم په پنځه طریقو سره دے. أَدْهٰى وَأَمَرُّ اسم تفضیل په نسبت د عذاب د بدر دے او دا رنګ د دُنیا د ټولو مصیبتونو او عذابونو په نسبت سره دا تفصیل دے. أَدْهٰى د داهیه نه ماخوذ دے هغه مصیبت ته ویلے کیږي چه د هغے لرے کولو هیڅ علاج او تدبیر نه وي او فرق د ادهٰی او امرّ بودا دے چه د اول اثر باطنی او روحانی دے او د دویم اثر ظاهری او بدنی دے دویم دادے چه د امر اثر په خوراک ځښکاک کښې دے او د ادهی اثر په نورو حواسو باندے دے.

إِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ ابن کثیر ویلے دي چه دا هر کافر او بدعتی ته شامل دے.

ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ضلال په دنیا کښې دے او سُعُرٍ جمع د سعیر په اخرت کښې دے یا سعر په معنیٰ د جنون دے نو دواړه په دنیا کښې دي یا ضلال په معنیٰ او ریدل د لارے د جنت نه په اخرت کښې نو دواړه په اخرت کښې دي.

مَسَّ سَقَرَ مس سبب د رد دے نو ذکر د سبب مراد مسبب دے سَقَرَ په اصل کښې سوځولو ته ویلے شي او دا نوم د جهنم دے. او ذُوْقُوْا نه مخکښې يُقَالُ لَهُمْ پټ دے.

شَیْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿۴۹﴾ وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ

خیز پیدا کړیدے مونږ هغه په تقدیر سره - او نه دے حال دَ قیامت مګر یوه شیبۀ ده

۴۹ دَ دے ایت نه تر ۵۳ پورے دَ الله تعالیٰ دَ تصرف او قدرت نه پنځه نمونے ذکر کیږی او دا ټول دَ سورت دَ دعوے سره تعلق لری چه هغه اثبات دَ قیامت دے. اودَ دے ایت ربط دَ مخکښ سره دادے چه ساعت (قیامت) کښ دَ دے منکرینو شک دے نو زړ وله نه راځی حاصل دَ جواب دادے چه الله تعالیٰ دَ دنیا دَ وجود اودَ فنا اودَ قیامت دَ راتللو دَپارهٔ تقدیر دَ اوقاتو کړے دے دَ هغے نه خلاف نه واقع کیږی. اِنَّا كُلَّ شَیْءٍ دَ كل شیء دَپارهٔ فعل مخکښ پټ دے نو دلالت کوی په خَلْقِ مطلق او عام خلق باندے خلقناه بقدر دا اشاره خلق ته ده چه مقید دے په تقدیر سره نو معلومه شوه چه خلق دَ تقدیر نه غیر دے. دا ایت صریح نص دے په مسئله دَ تقدیر کښ ابن کثیر وائی چه تقدیر علم دَ الله تعالیٰ په ټولو خیزونو باندے مخکښ دَ وجود دَ هغے نه او لیکل دَ هغے دی مخکښ دَ پیدا کیدلو نه او خطیب شربینی وائی دی چه قَدَرٍ قضاء او حکم مضبوط او تقسیم محدود او پورهٔ قوت او کلک تدبیر په وخت معلوم او مکان معین دے چه لیکلے شویدی په لوح محفوظ کښ مخکښ دَ واقع کیدلو نه. او كُلٌّ فِی كِتٰبٍ مُّبِیْنٍ او كُلَّ شَیْءٍ اَحْصَیْنٰهُ فِیْٓ اِمَامٍ مُّبِیْنٍ او دا سے نور ایات ښکاره دلیل دے چه تقدیرات لیکلے شویدی او صحیح احادیث په کثرت سره ابن کثیر دَ دے ایت په تفسیر کښ لیکلے دی چه په هغے کښ لیکل دَ مقدراتو ثابت دی نو معلومه شوه چه چا وئیلے دی چه تقدیر صرف دَ علم دَ الله تعالیٰ مخکښ دَ وجود دَ خیزونو نه عبارت دے یا څوک وائی چه تقدیر صرف پیدا کول دی دا اقوال غلط دی او دا رنګ دَ دے ایت په تفسیر کښ عام مفسرینو دَ سلفو صالحینو دَ اقوالو نه ثابت کړیده چه دا ایت نازل شوے دے په رد دَ منکرینو دَ تقدیر کښ چه هغه معتزله وو او په دے زمانه کښ منکرین حدیث (پرویزیان) او دهریان خلق دی. لیکن سرهٔ دَ تقدیر نه الله تعالیٰ انسانانو ته څه قدرت دَ کسب ورکړیدے او توفیق هم ورکوی چه دَ هغے دَ وجے نه جزاء او سزاء به ورکوی او په دے باندے هم ډیر نصوص دَ قرآن او سنت شاهد دی.

كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدْ أَهْلَكْنَا أَشْيَاعَكُمْ

په شان د رپ د سترگې - او یقینًا هلاک کړیدی موږ ملګري ستاسو

فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ

نو ایا شته دے نصیحت قبلوونکے - او هر څیز (کار) چه کوي دا خلق

فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾

نو په صحیفو د ملائکو کښې دي او هر وړوکے عمل او لوئے عمل لیکلے شویدے -

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ

یقینًا متقیان به په باغونو او نهرونو کښې وي - په مجلس

سنہ دا هم ذکر د تصرف کلي د الله تعالیٰ دے وَمَا أَمْرُنَا دا عام دے هر یو کار ته او قیام د قیامت
ته هم شامل دے لکه سورة نحل سنہ کښې تیر شویدی - إِلَّا وَاحِدَةٌ یعنی امر د یو کار د
کیدلو د پاره یو ځل کوؤ بیا بیا تاکید ته حاجت نه وي نو هغه کار په اراده د الله تعالیٰ پسے
دا سے زر موجود شي لکه د سترگے رپ نو واحدة نه مراد مرّة واحدة دے یا مراد د دے
نه کلمة واحدة ده چه هغه کلمه د کُنْ ده په نورو ایاتونو کښې ذکر شویده -
او په باره د قیام د قیامت کښې خوډیره مبالغه مقصد وه نو سورة نحل کښې اقرب هم
ذکر کړے دے -
سلہ دا ذکر د بل تصرف الٰهي دے او تخویف دنیوی دے أَشْيَاعَكُمْ په معنی د اشباه
یعنی ستاسو په شان تیر شوي کافران او مشرکان - او اتباع مراد اغستل د دے نه
خطا دي -
سلہ سلہ په دے کښې د الله تعالیٰ دوه تصرفات نور ذکر کړے دي - فَعَلُوهُ ضمیر تړلو
انسانانو ته راجع دے یا اشیاعکم ته راجع دے او د زُبُر نه مراد صحیفے د ملائکو
(کرامًا کاتبین) دي دا غوره قول دے او صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مراد د دے نه ټول انسانان او
عملونه او گناهونه دي بلکه ټول څیزونه دي چه په هر یو کښې لوئے او وړوکے
شته دے مُسْتَطَرٌ لیکلے شوے دے په لوح محفوظ کښې چه کتاب د تقدیر
دے د دے نه تقدیر ثابت شو -
سلہ سلہ روستو د تخویف او د ذکر د حال د متکرینو نه حال د متقیانو بیانے په بل مخ

ع ۳ ۵

صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۵۵﴾

دَ رشتیاؤ کښ په نیز دَ لوئے بادشاه پوره قدرت والا -

اوبشارت دَ هغوی ذکر کوی په پټه طریقو سره. نَهَرٍ اسم جنس دے مراد تربیته ډیر انهار دی خو د ډیر اتصال دَ هغه نهرونو دَ یو بل سره په شان دَ یو نهر دی نو مفرد ئے ذکر کړو یا دَ نهر نه معنیٰ لغوی مراد ده یعنی وسعت او فراخی -

مَقْعَدِ مجلس او مکان ته ویلی کیږی. مجلس صرف دَ کیناستلو ځائے ته ویلے کیږی او مَقْعَدِ هغه ځائے دے چه ډیر وخت پکښ حصاروی نو په دے لفظ کښ مبالغه ده په نسبت دَ لفظ مجلس سره -

صِدْقٍ دا صفت دَ مکان او قول او فعل ټولو دَ پاره استعمالیږی. دلته مراد دَ دے نه جنت دے چه لغو او گناهونه پکښ نیشته او حاصلیږی په سبب دَ صدق سره نو اضافت دَ مسبب دے سبب ته -

عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ دا دواړه صیغے دَ مبالغے دی یعنی پوره بادشاهے او پوره تصرف او قدرت والا چه هیڅ قسم نقصان او عجز وربانده نه راځی او دغه ذات صرف الله تعالیٰ دے -

ختم شو تفسیر دَ سورۃ قمر په توفیق او فضل دَ الله تعالیٰ سره -

سُورَةُ الرَّحْمٰنِ ۵۵ مَدَنِيَّةٌ ۹۷	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۷۸ رُكُوْعَاتُهَا ۳

اَلرَّحْمٰنُ ۝۱ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ۝۲ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۝۳

هغه رحمان دے تعلیم ئې ورکړے دے دَ قرآن پیدا کړیدے انسان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الرحمٰن ۔ او بل نوم ئې سورة عروس القرآن دے

ربط دَدے دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه مخکښ سورت کښ دَ الله تعالیٰ خاص او عام تصرفات ئې ذکر کړل دلته په هغې باندے تفریع کوی دَ اثبات رحمانیة دَ الله تعالیٰ۔ دویمه وجه داده چه په هغه سورت کښ تخویف او بشارت اجمالی ذکر کړے وۇ نو په دے سورت کښ دَ هغې دواړو تفصیل دے۔ دریمه وجه دا چه په هغه سورت کښ تفسیر دَ قرآن ئې ذکر کړو نو په دے سورت کښ دَ هغې وجه ذکر کوی په تعلیم دَ قرآن او دَ بیان سره ۔ څلورمه وجه داده چه دَ هغه سورت اختتام وۇ په ملیک مقتدر سره نو ګویا که سوال اوکړے شو چه هغه څوک دے نو دَ دے سورت په اول کښ جواب اوشو چه الرحمٰن۔

دعویٰ دَ سورت داده ۔ اثبات دَ رحمانیت دَ الله تعالیٰ سرهٔ د رد دَ شرک فی البرکات نه په اول او اخر کښ په ذکر دَ ډیرش لویو نعمتونو دنیویو سره تفصیلاً او په ذکر دَ لفظ الآء سره یو دیرش کرته اجمالاً۔ ځکه چه الآء غټو غټو نعمتونو ته ویلے کیږی۔ خلاصه دَ سورت داده ۔ اول دعویٰ دَ سورت ده په الرحمٰن سره په ذکر دَ دیرش انعاماتو دنیویه باطنی روحانی او ظاهری سره او دا عقلی دلیلونه هم دی او په دیکښ فبأی الآء ربکما تکذبان جمله اته کرته ذکر کړے ده بیا په تخویف اخروی سره ذکر دَ انعاماتو دے او په هغې کښ دغه جمله اووه ځله ذکر کړے ده بیا په بشارت اخرویه سره ذکر دَ انعاماتو اخرویو دے او په هغې کښ شپاړس کرته دغه جمله ذکر شوے ده۔

فائده اوله داده : چه حدیث کښ راغلی دی (دَ ابن کثیر دَ کلام نه معلومیږی چه حدیث حسن دے) چه رسول الله صلی الله علیه وسلم راغے په بل مخ)

دا سورت پیر یا تو ته لوستلے وؤ او هغوی دَ هرے جملے (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) سره دا جواب کوؤ چه (لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ) چه په هیڅ یو نعمت دَ نعمتونو ستا نه اے ربه زمونږ انکار نه کوؤ مونږ. تو ستا دَ پاره صفتونه دَ الوهیت دی. نو بیا ئے صحابه کرامو ته هم دَ دے جواب کولو ترغیب ورکړو. دَ دے وجے دَ دے جملے دَ لوستلو په وخت کښ دا جواب کول سنت دی لیکن په مونځ کښ هر کله که موقع موهی چه په ژبه ویلے شی نو ښه ده او که نه نو زړه کښ دِ وائی.

دویمه فائده: دا جمله یو دیرش کرته په دے سورت کښ راغلے ده اګر چه دَ لفظ په لحاظ سره تکرار دے لیکن دَ مقصد په لحاظ سره تکرار نیشته ځکه چه په هر ځائے کښ دَ دے جملے جدا جدا مقصد دے لکه چه روستو به معلومه شی.

دریمه فائده: دا جمله دَ نعمتونو سره اته کرته ذکر کړے ده ځکه چه اصول دَ نعمتونو اته قسمونه دی. ۱ باطنی ۲ ظاهری ۳ انفسی ۴ آفاقی ۵ بری ۶ بحری ۷ علوی ۸ او سفلی. او دا ټول قسمونه دلته ذکر شوی او دا جمله ئے دَ تخویف اخروی سره اووه ځله ذکر کړے ده اشاره ده چه دَ جهنم اووه دروازے دی دَ ټولو نه دَ بچ کیدلو سبب دَ تکذیب نه ځان ساتل دی او دَ بشارت سره ئے اولا اته کرته او ثانیا هم اته کرته ذکر کړے ده اشاره ده چه دَ جنت اته دروازے دی. که اول قسم جنتونه دی او که دویم قسم دی.

څلورمه فائده: دا سورت دَ لفظ رحمان تفسیر دے او دَ دے په وجه سره دا صفت په الله تعالیٰ پورے دا سے خاص دے چه لفظی اطلاق ئے هم په غیر الله باندے منع دے لکه چه دا تحقیق په تفسیر دَ سورة فاتحه کښ ډیر مفسرینو ذکر کړے دے تفسیر ۱ دا خبر دے دَ مبتدا محذوف یعنی هو الرحمٰن او دا دعویٰ دَ سورت ده. یا الرحمٰن مبتدا ده او روستو آیاتونه ئے خبر دے لیکن هر کله چه الرحمٰن په نیز دَ اکثرو قراؤ باندے آیت مستقله دے نو معلومه شوه چه اول قول غوره دے او دا رد دے په مشرکینو باندے چه هغوی به مسیلمة الکذاب ته رحمان ویل.

۲ دا ذکر دَ اول نعمت دے. دا نعمت دینیه روحانیه دے او دَ ټولو نعمتونو نه ډیر لوے نعمت دے. او تعلیم دَ قرآن دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نازلول او آسانول دَ پاره دَ لوستلو او نصیحت اخستلو دی.

عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿٤﴾ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿٥﴾

خودلے دہ ھغه ته طریقه دَ مقصد ښکاره کولو۔ نمر او سپوږمۍ (چلوی) دَ پاره دَ حساب۔

(سوال) په قرآن کښې بعضې متشابهات شته چه دَ هغې په حقیقت صرف الله تعالیٰ پوهیږی لکه سورة آل عمران کښې تیرشوی دی نو دَ دے آیت سره دَ هغې څه موافقت دے؟ جواب اول دا دے چه دَ چا په اکثره حصّه دَ کتاب باندے علم حاصل شی نو ویلے کیدیشی چه فلان شخص په هغه کتاب باندے عالم دے نو قرآن کریم کښې اکثر محکمات دی دَ هغې علم ته علم دَ قرآن ویلے کیدیشی۔ دویم جواب دا دے چه متشابهات هم الله تعالیٰ دَ لوستلو او دَ معنیٰ په لحاظ سره آسان کړیدی اګر چه کیفیت ئې معلوم نه وی او اشکال په مسلک دَ هغه چا باندے دے چه معنیٰ دَ متشابهاتو مجهوله ګنړی۔

ف۳ ف۴ په دے کښې دوه نعمتونه ذکردی۔ خَلَقَ په ماقبل باندے عطف نه دے ځکه چه دا کلام متسانف دے جواب دَ سوال دے! چه څوک اهل دَ قرآن دے نو جواب اوشو چه جنس انسان۔ او بله وجه دَ نه عطف کولو دا ده چه دا دَ تعداد دَ نعمتونو په طریقه دے او په تعداد کښې حرف عطف نه راځی۔ الْإِنْسَانَ ظاهر دا ده چه جنس انسان دَ دے نه مراد دے آدم علیه السّلام او نبی صلی الله علیه وسلم پکښې هم داخل دی۔ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ مراد دَ بیان نه قوت دَ نطق یعنې دل په ژبه اوشونړو او مرئ دَ انسان په داسے طریقه چه خپل مقصد ښکاره کولے شی او قرآن هم لوستلے شی او بیانولے شی۔ په انسانی صفتونو او قوّتونو ئې دا صفت په ذکرکولو سره دَ دے وجے نه خاص کړو چه تمیز دَ انسان دَ نورو حیواناتو نه په قوت دَ بیان سره دے او دَ دے وجے نه ئې په عطف سره نه دے راوړے دیکښې اشاره ده چه پیدا ښت دَ انسان په حقیقت کښې عبارت دے دَ هغه دَ قوة ناطقه نه، دَ دے وجے نه ویلے شویدی چه که ژبه نه وی نو انسان نه وی مګر خاروے یا بُت وی۔

ف۵ په دے کښې ئې دوه انعامات ذکرکړے دی۔ تیرشوی انعامات باطنیه سبب دَ نُورِ باطنی وو او دا انعامات ظاهریه سبب دَ نُورِ ظاهری دے۔ بِحُسْبَانٍ دا مصدر دے او په نیز دَ اخفش جمع دَ حساب ده او حسبان په ډیرمعنو سره دے حساب کول، اندازه، عذاب، دلته اوله یا دویمه معنیٰ مراد ده او په دیکښې رد دے په هغه مشرکینو باندے چه دَ نمر یا سپوږمۍ عبادت کوی۔

وَّالنَّجۡمُ وَالشَّجَرُ يَسۡجُدٰنِ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا

او بوټي او ونې سجدې کوي - او اسمان الله تعالیٰ پورته کړیدے

وَوَضَعَ الۡمِيۡزَانَ ﴿٧﴾ اَلَّا تَطۡغَوۡا فِي الۡمِيۡزَانِ ﴿٨﴾

او ایښے دہ تله (دپاره دی) چه د حد نه مه تیریږئ په تول کولو کښې -

سـ۶ دا هم دوه انعامات دی - نَجۡمُ هغه بوټي دے چه پنډے یاندے ولاړ نه وی او شجر هغه بوټي دے چه په خپلے پنډے تنې باندے ولاړ وی - نو دا دواړه دَ زمکے نعمتونه دی روستو دَ ذکر کولو دَ اسماني نعمتونو نه - او په النَّجۡمُ کښې دویم احتمال هم شته چه ستوری ترینه مراد کړے شي او دا رد دے په هغه مشرکانو چه عبادت دَ ستورو او دَ ونو کوی - يَسۡجُدٰنِ سجده کول دَ هر مخلوق دَ هغوی دَ شان سره مطابق وی او دلالت کوی په انقیاد او تابعداریٔ کولو دَ حکمونو دَ الله تعالیٰ - او په دے دواړه آیاتو نو کښې تقدیر دَ عبارت دے یعنی بحسبانٍ - یسجدان له ضمیر دَ دواړو الرحمٰن نه راجع دے -

سـ۷ دا نور دوه انعامات ذکر کوی - رَفَعَهَا رفع مکاني مراد دہ لکه سورة غاشیه سـ۱۸ کښی دی او رفع دَ مرتبے هم کیدے شي - وَ وَضَعَ الۡمِيۡزَانَ - مِيۡزَانَ په معنیٰ مشهور سره دے یعنی تله - او په معنیٰ دَ عدل - او په معنیٰ دَ شریعت او په معنیٰ دَ قرآن سره هم مفسرینو ذکر کړے دے او میزان دَ آخرت ترینه هم مراد کیدے شي هرکله چه په معنیٰ دَ شریعت او دَ قرآن سره وی نو مناسبت ئے دَ آسمان سره ظاهر دے ځکه چه آسمان محل دَ وحی او دَ شریعت دے او دَ هغے نه نښکته نازلیږی - او په نورو معنو سره مناسبت بعید دے هاں مناسبت دَ پاره دا کافی دہ چه حکم دَ عدل او دَ وزن کولو دَ څیزونو دَ آسمان نه نازل شوے دے او دَ دے دَ وج نه تول اهل عقل دَ دے په حسن باندے اتفاق کوی که عمل پرے کوی او که نه کوی -

سـ۸ سـ۹ په دے کښی په باره دَ میزان کښی درے آداب ذکر کوی اول اَلَّا تَطۡغَوۡا په دے کښی امر کم پټ دے یا لام اجلیه پټ دے - هرکله چه مراد دَ میزان نه قرآن او شریعت وی نو طغیان په هغے کښی تحریف کول دی او مخالفت کول دَ په طریقه دَ انکار تر دے پورے چه عنادی او دهری کافر شی - او چه دَ میزان نه

وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا

او برابر ونئ تلل (تول کول) په انصاف سره او کمے مه کوئ په

الْمِيزَانَ ۝٩ وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ ۝١٠

تول کولو کښ - او زمکه الله تعالیٰ ایخے ده د پاره د خلقو

فِيهَا فَاكِهَةٌ وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ ۝١١

په هغے کښ میوے دی او کجورے کسورو والا -

عدل مراد دی نو طغیان په هغے کښ جور او ظلم کول دی او چه مراد د میزان ته تله وی نو طغیان په هغے کښ زیاتے کول دی د پاره د گټان په دهوکے کولو سره.

او دویم ادب وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بنا په اول بانلے وزن د دلیلو نو قرانیه دے د پاره د اثبات د توحید او عمل او عقیده برابر کول په ایاتونو د قرآن او په شریعت سره. او بنا په دویم وزن د حقوقو د خلقو او د خالق دے د پاره د قائم کولو د عدل او بنا په دریم اقامت د وزن، په لاس سره تله برابر کول او قسط په زړه سره.

دریم ادب وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ. نو بنا په اول بانلے په دلیلو او ایاتِ قرانیه کښ نقصان کول په طریقه د شرك کولو او فسق کولو، دا نقصان کول دی په حقوقو د الله تعالیٰ کښ او په طریقه د ظلم کولو نو دا نقصان دے په حقوق العباد کښ او بنا په دویم نقصان د عدل کښ ظلم کول دی او بنا په دریم باندے کمے (کمے) کول په تللو کښ د بل چا د پاره او میزان ئے درے کرته په اسم صریح سره ذکر کړیو د دے وجے نه چه ډیر تاکید ثابت شی او اخر د ایاتونو هم برابر شی او بل د دے وجے نه چه د اول میزان نه آله د تللو یعنی تله مراد ده او د دویم نه معنیٰ مصدری مراد ده او دریم په معنیٰ د مفعول سره موزون مراد دے. فائده: د میزان په دے معانیو او درے ادابو سره رعایت کول لوئے نعمت د الله تعالیٰ دے چه په هریو سره ظلمونه او جګړے د انسانانو ختمیږی.

ﺳﺌ سلـ په دے ایاتونو کښ درے انعامات ذکر کوی وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ هر کله چه په زمکه کښ ډیرے فائدے دی ما سیوا د میوو او کجورو نه د دے وجے وضع للانام ئے مستقل ذکر کړے دے (پاتے په بل مخ)

وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾ فَبِأَيِّ

او دانے دی بوسو والا او خوشبو یئے دی ۔ نو دَکوم یو

آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ

دَاحسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو دواړه ۔ پیدا کړے دے انسان (آدم علیه السلام)

أَنَامِ انسانانو او پیریانو دواړو ته شامل دے او ټولو ژوندو سرو ته هم ویلے کیږی ماخوذ دے دَ نوم نه یعنی هغه مخلوق چه اوده کیږی یا ماخوذ دے دَونیم نه په معنیٰ دَ آواز کولو یعنی هغه مخلوق چه آواز والا وی لکه چه خطیب شربینی ذکر کړے دی ۔ وَالنَّخْلُ دائے دَ فاکهة نه جدا ذکر کړو دَ دوه وجو نه اول دا چه نخل کښ فاکهه او غِذا دواړه دی دویمه دا چه نخل کښ دَ ټولو ونو او میوو نه زیاتے فائدے دی لرگے څانگے او میوه دَ دے دَاول ښکاره کیدلو نه تر پوره پخیدلو پورے چه هغے ته جمار او بیا طلع بیا بسر بیا رطب بیا تمر په مختلف حالتونو کښ ویلے کیږی او مختلفے فائدے ورکوی.

أَكْمَامِ هغه کسوړے دَ لستوڼری په شکل سره چه په اول حالت کښ دانے دَ گجورے پکښ پټے وی بیا اوچوی نو دانے (غنچکونه) تری نه ښکاره شی یا مراد په دے سره هغه ترے پوستکے دے چه دَ اوتے دَ گجورے دَ سانگو او دَ تنے په مینځ کښ چاپیره وی۔ سلا: په دے کښ درے نعمتونه ذکر کړے دی . الْعَصْفِ هغه پاڼرے دَ فصلونو چه اوچے شی او څاروی یئے خوری ۔ وَالرَّيْحَانُ رزق او کشمالو او هر بوټے چه خوشبوئی کوی او پاڼرے دَ بوټی چه دَتنے دَ هغے سره پیوست وی په دے ټولو کښ جدا جدا فائدے دی او دا ټولے معانی دلته مراد کیدلے شی.

سلا تکرار دَ دے جملے دَ وجے دَ اختلاف دَ نعمتونو نه دے او دَ تاکید دَ الزام دَ حجت دَ پاره دے . او مخاطب په دے سره هغه پیریان او انسانان دی چه کفر او شرك او ناشکری کوی په قرینه دَ تکذبان سره یعنی اے خلقودا سے نعمت او ښایئے چه هغه الله تعالیٰ نه وی پیدا کړی او ستاسو معبودانو پیدا کړے وی یا الله تعالیٰ هغه نعمت په مدگر تیا دَ دے معبودانو سره پیدا کړے وی او دَ هغے وجے نه تاسو هغوی لره شریکان جوړوئ ۔ آلَاءِ جمع دَ أَلَیٰ او إِلَیٰ ده په معنیٰ دَ ښکاره نعمت سره دے او په معنیٰ دَ قدرت سره

مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿١٤﴾ وَخَلَقَ الْجَانَّ

ذ کر ټکار کوډيکي ختې نه چه پشان دَ ټکرى ده | او پيدا کړيدے | جان

هم قرطبي راوړے دے او الاء جمع راوړلوکښ اشاره ده چه مخکښ چه کوم نعمت ذکر کړے دے هغه په اصل کښ په ډير نعمتونو باندے مشتمل دے. رَبِّكُمَا په لفظ دَ رب کښ تاکيد دے دَ احسان چه الله تعالیٰ پيدا کوونکے دَ څيزونو دَ پالنے او پالنه کوونکے دے. او خطاب پيرياتو او انسانانو دواړو ته دے ځکه چه په لفظ انام کښ دواړه داخل دی او دا رنګ روستو هم صريح خطاب راځي په ايها الثقلان او يا معشر الجن والانس سره. تُكَذِّبَانِ يو تکذيب دا دے چه هغه نعمت نعمت نه ګڼړي لکه نزول دَ قرآن دويم دا چه نعمت دَ الله تعالیٰ طرف ته نه ګڼړي. دريم دا چه په هغه نعمت پيدا کولو کښ دَ الله تعالیٰ سره شريک ګڼړي لکه نعمتونه ظاهريه دنيويه او په عنوان دَ تکذيب سره ئے دَ دے وجے نه ذکر کړے دے چه الله تعالیٰ دا نعمتونه په جمله خبريه صادقه سره ذکر کړے دی او دَ هغے نه منلو ته تکذيب ويلے کيږی.

سکا دا ذکر دَ خاص نعمت دے روستو دَ عام نه يعنی په سـ کښ عام انسان مراد وو او په دے ايت کښ خاص آدم عليه السلام مراد دے او دليل (نعمت) انفسی دے روستو دَ نعمتونو آفاقيو نه - صَلْصَالٍ هغه خټه چه اوچه شی کړنګ کوی - كَالْفَخَّارِ هغه اوچه خټه چه په اور کښ سره شی هغے ته ټيکرے او کودرے ويلے کيږی حرف دَ کاف کښ اشاره ده چه عين ټيکرے نه وو جوړ کړے نو معلومه شوه چه دَ اور اثر پکښ نه وو فطرت دَ انسان بالکل جدا دے دَ فطرت دَ جن نه. (تنبيه) ترتيب دَ خلق دَ آدم عليه السلام دا دے چه خاوره دَ زمکے ئے دَ مختلفو رنګونو نه راجمع کړه لکه سورة آل عمران ۵۹ کښ ذکر دی خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ بيا ئے دا خاوره په اوبو سره واخړله نو خټه ئے جوړه کړه او خالصه ئے او ګرځوله لکه سورة سجدة ۷ او سورة مؤمنون ۱۲ کښ ذکر کړے دی بيا ئے څه وخت پورے پريخودله نو سليخ پکښ پيدا شو لکه سورة صافات ۱۱ کښ دی بيا ئے ډير وخت او ساتله نو رنګ ئے بدل شو او بد بوئے خميره شوه لکه سورة حجر ۲۸ کښ ذکر دی بيا ئے بنه ئے اوچه کړه چه په ګوته ټکولو سره کړنګار کوی او هغے ته صلصال وائی او دا ئے اخری حالت وو لکه چه په دے رپاتے په بل مخ)

مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿۱۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دَ خالصې لمبې دَ اور نه - نو دَ کوم يو دَ احسانونو دَ رب خپل

تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿۱۷﴾

انکار کوئې تاسو - رب دَ دوؤ مشرقونو او رب دَ دوؤ مغربونو دے -

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۸﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ

نو دَ کوم يو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئې تاسو ګډ يې روان کړی دی دوه دريابونه

سورت کښې ذکر دے او دائې اخری حالت دے نو بيا ئې ترينه خوبنه هډوکي خټه جوړه کړه او روح ئې پکښې واچوؤ - نو دَ رحمانيت دَ مناسبت دَ وجې نه په دې سورت کښې اخری حالت ئې ذکر کړو نو معلومه شوه چه انسان دَ درې عناصرو نه جوړ کړے شوے دے خاوره - اوبه او هوا -

ف۱۵ په دې کښې بل خاص نعمت ذکر کوی - الجان ابوالجن دے ظاهر داده چه دے غير دے دَ ابليس نه هغه خو ابوالشياطين دے - مَارِجٍ لمبه دَ اور چه درے رنګونه پکښې بنکاره کيږی سور، زيړ او شين او دَ دے سره لوګے ګډ نه وی او داپه تيز اور کښې وی دَ دے وجې نه سورة حجر ف۲۷ کښې دے ته نارالسموم ويلے شوی دے مِنْ اول دَ پاره دَ ابتداء دے او دويم مِنْ دَ بيان يا دَ تبعيض دَ پاره دے -

ف۱۶ په اٰلآء کښې اشاره ده چه دواړه اياتونو کښې ډير نعمتونه ذکر دی - پيدائش دَ آدم او دَ نوع دَ انسان او دَ صلصال نه په خاص کيفيت سره پيدا کول او دا سلسله جاری ساتل - او پيدائش دَ جان او دَ نوع دَ جن او دَ مارج نه په خاص کيفيت سره پيدا کول - او دَ نسل جاری ساتل - او دَ دواړو په ماده دَ خلقت کښې فرق کول او دَ هغې په وجې سره دَ دوی په اخلاقو او طبيعتونو کښې فرق پيدا کول دا ټول بے شماره نعمتونه دی په انسانانو او په پيريانو دواړو باندے پيدے انعاماتو کښې يو هم سبب دَ انکار او دَ شرک نشی کيدے -

ف۱۷ ف۱۸ په اول ايت کښې مشرقين او مغربين پيدا کول او دَ هغوی جدا جدا صفات او احوال او دَ هغې ربوبيت (انتظام چلول) ذکر دے او په هغې کښې هم ډير نعمتونه دَ الله تعالٰی دی او پنځه امور ذکر شول ، رب، دوه مشرقونه او دوه مغربونه -

يَلْتَقِيٰنِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾

چه یو ځائے چلیږی، په مینځ دَ دواړو کښ ئې ناآشنا پرده ده چه په یو بل باندے زیاتے نه کوی.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو - را اوځی

مَشْرِقَيْنِ دَ موسم دَ اوړی او دَ ژمی جُدا جُدا مشرق دی او دارنګ مغربونه ئے هم جُدا جُدا دی یا مشرق او مغرب دَ شمس جُدا دے او دَ قمر جدا دے یا دَ ایشیا دَ ملکونو مشرق او مغرب جُدا دے او دَ امریکے وغیره مشرق او مغرب جدا دے یعنی په اعتبار دَ اوقاتو سره چه په دے ملکونو کښ نمر ښکاره شی نو هلته کښ غروب شی او دارنګ برعکس. او په دے نظام کښ دَ موسمونو تبدیلی او هغے وجے سره دَ فصلونو پیدا کیدل او دَ رنړا او دَ تیرے پیدا کیدل داډیر نعمتونه دی.
فائده: په دے سورت کښ اکثر خطابات په صیغه دَ تثنیه سره دی نو دَ هغے دَ مناسبت دَ وجے نه دا دواړه لفظونه هم تثنیه ذکر کړے شول.
سلا ت۲۰ روستو دَ بری نعمتونو نه بحری انعامات ذکر کوی. اَلْبَحْرَيْنِ خوږے او په چه دَ آسمان نه راوریږی او په زمکه کښ ئے دَ هغے نه نهرونه سیندونه خوړونه جوړ کړیږی او اکثر دَ هغے نه یو ځائے شی او آخر ئے مالګین سمندر ته اورسوی او دواړه قسمونه ئے یو ځائے روان کړی دی دَ دے دواړو په مینځ کښ ابتداء نه دَ زمکے او دَ آسمان پرده ده او هر چه یو ځائے روان شی نو دَ دوی په مینځ کښ معنوی قدرتی پرده ده او دا سے تیر شو یدی ے په سورة الفرقان سـ۵۳ کښ او سورة فاطر سـ۱۲ کښ او په دے تفصیل سره ډیر اقوال دَ مفسرینو جمع شول او یو قول دا دے چه مراد دَ دے نه بحیره فارس او روم دے او التقاء دَ دوی نه دا ده چه اول او آخر ئے یو بل سره یو ځئے دی او پردے نه مراد زمکه دَ حجاز ده لیکن دا قول دَ سورة فرقان او دَ سورة فاطر مخالف دے. لَّا يَبْغِيٰنِ په یو بل باندے بغی نشی کولے دَ پاره دَ دے چه او به ئے کیږے و دے نشی او دَ دواړو نه چه کومے فائدے مقصود دی هغه خرابے نشی او دارنګ دوی په خلقو باندے بغی نشی کولے یعنی په ټوله دُنیا (زمکه) باندے نشی راخوریدلے اګر چه په ډیره زمکه باندے دَ دوی سطح اوچته ده.
سـ۲۱ آلاءِ په مخکښ کښ تیر نعمتونه ذکر شول - ا و پاتے په بل مخ)

مِنۡهُمَا اللُّؤۡلُؤُ وَالۡمَرۡجَانُ ﴿۲۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

دَ دے دواړو نه ملغلرے غټے او ښـــــرے ـ نو دَ کوم یو دَ احسانانو دَ رب

رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الۡجَوَارِ الۡمُنۡشَئٰتُ

خپل انکار کوئے تاسو ـ او خاص دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی روانے کشتے چه اوچتے کړے شوی

فِی الۡبَحۡرِ کَالۡاَعۡلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا

په دریاب کښ پشان دَ غـــرونو ـ نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپـــل

مرج ، دوه قسمه اوبه ، التقا ، برزخ ، عدم بغی او دَ دے نه علاوه په خوږو اوبو کښ بے شماره منافع دَ مخلوق دَ پاره او په بحر مالح (مالګین) کښ هم ډیرے فائدے دی په ډیرو ملکونو کښ دَ دے نه تیل (پټرول) راوځی چه په هغے کښ بیا ډیر منافع دی ـ
۲۲ سـ ۲۳ په دے کښ دوه انعامات ذکر کوی او دَ فائدو دَ بحرین ئے دا فائده جُدا ذکر کړه ځکه چه دَ لؤلؤ مرجان فائدے هم دَ عامو فوائدو نه جدا دی ـ دَ کانړو دَ خواصو علم لرونکی اکثر دا فائدے پیژنی او دَ دے نه دوایانے او کُشتے هم دَ علاج دَ بیمارو دَ پاره جوړیږی ـ مِنۡهُمَا دا ضمیر تثنیه پخپله معنی باندے دے یعنی دا لؤلؤ مرجان یقیناً دَ دواړو اوبو دَ اختلاط نه پیدا کیږی مثال ئے دَ نر او دَ مادے دے ـ ابن جریر ویلی دی چه اوبه دَ باران دَ سمندر په کهلاؤ صدفونو کښ را اُوریږی او صدفونه بند شی نو په هغے کښ ملغلرے جوړے شی یوه یا ډیرے او دَ دے مشاهده هم بعض خلقو کړیده ـ
او ابوحیان ذکر کړیدی چه په کوم ځایونو کښ دَ خوږو اوبو سیندونه دَ سمندر سره یوځائے کیږی نو تجربه دَ غواصانو (غوپے وهونکی خلقو) سره ثابت ده چه په دغه ځایونو کښ دا ملغلرے ملاویږی ـ دَ دے وجے نه دا توجیه (چه بعض مفسرینو) ذکر کړے ده چه دلته ضمیر تثنیه په معنیٰ دَ مفرد سره دے نو دا بے ضرورته تاویل دے او دا رنګ مخالف دے دَ ظاهر دَ سورۃ فاطر ۱۲ نه هم ـ
۲۴ سـ ۲۵ دَ بحری نعمتونو نه بل لوئے نعمت ذکر کوی ـ لَهُ په دے کښ تخصیص دَ تصرف دَ الله تعالیٰ ته اشاره ده دَ پاره دَ اثبات دَ توحید ـ الۡجَوَارِ جمع دَ

تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۵﴾ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾

انکار کوئ تاسو - ټول هغه څوک چه په زمکه باندے دی فنا کیدونکی دی -

وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۲۷﴾

او باقی به وی ذات دَ رب ستا چه خاوند دَ لوئ شان او دَ عزت دے -

جاریت ده - فلک دَ دے نوم وو مخکښ دَ جوړولو نه لکه وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا (هود) بیا روستو دَ چلیدلو دَ دے نه په دریاب کښ او پس دَ نجات نه دَ دے نوم کیخودلے شو سفینه لکه فَاَنْجَيْنٰهُ وَاَصْحٰبَ السَّفِيْنَةِ (عنکبوت) او په دریاب کښ دَ گرځیدلو په وخت کښ دَ دے نوم دے جاریت - پدا سے وخت کښ مؤمنان او مشرکان دواړه اقرار کوی چه دا په قدرت دَ الله تعالیٰ چلیږی دَ دے وجے نه مشرکانو به هم پدا سے وخت چه خطره به پیښه شوه الله تعالیٰ ته آواز کوؤ. او دا حالت دلالت کوی په انعام باندے دَ دے وجے نه دَ دے تخصیص ئے اوکړو. الْمُنْشَئٰتُ ماخوذ دے دَ انشاء نه په معنیٰ دَ پیدا کولو یعنی پیدا کړے شوی دی. یا ماخوذ دے دَ نَشُوءُ نه په معنیٰ دَ ارتفاع یعنی غاړے ئے اوچتے دی پشان دَ غرونو او پدیکښ اشاره ده لویو لویو بحری جهازونو ته او دا اعجاز دَ قرآن دے ځکه چه دا سے لوے لوے جهازونه خو روستو زمانو کښ پیدا شول او قرآن دَ هغے ذکر مخکښ کړے وؤ او دا سے په سورة شوریٰ ۳۲ کښ ذکر شوی دی. -آلاء پدیکښ پنځه نعمتونه ذکر دی - له ، الجوار ، المنشئات، فی البحر ، کالاعلام او نور نعمتونه پکښ ډیر دی په دریاب کښ سفر کول دَ پاره دَ تجارتونو ، جهاد او حج کولو او په هغے کښ ښکار کول او دَ ملغلرو وغیره دَ راویستلو دَ پاره کشتئ استعمالول وغیره -

۲۶ ۲۷ ۲۸ پدیکښ یله نوعه دَ نعمتونو ذکر کوی چه هغه پنځه دی. فناء دَ کل ، بقاء ، وجه دَ رب ، جلال ، اکرام او په دویم آیت کښ پنځه صفتونه دَ الله تعالیٰ ذکر کړے دی - كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا مراد دَ مَنْ نه پیریان او انسانان ټول دی ځکه چه پدے سورت کښ مخاطبه دَ دوی سره ده اگر چه دَ دوی نه علاوه نور مخلوق هم فنا کیږی په دلیل دَ ۸۸ دَ سورة قصص سره په مشهور تفسیر باندے - وَجْهُ رَبِّكَ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت په یل مخ)

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾ يَسْـَٔلُهٗ مَنْ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئ تاسو ۔ محتاج دی الله تعالیٰ ته هغه څوک

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِيْ

چه په اسمانونو او زمکه کښ دی ۔ هر وخت هغه په جدا جدا

شَاْنٍ ﴿۲۹﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾

کار کښ دے ۔ نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئ تاسو ۔

قرطبی نقل کړے دی چه وجه نه مراد ذات او وجود د الله تعالیٰ دے او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله نه نقل دے چه لفظ وجه مشترك دے کله په یو معنیٰ وی او کله په بله معنیٰ سره او ټولے حقیقی معانی دی نو دے ته تاویل د متشابه نه ویلے کیږی ۔ رَبِّكَ (سوال) په سورت کښ نور خطابات د تثنیه دی او دا خطاب ئے په مفرد سره ذکر کړو؟ (جواب) دا دے چه په دیکښ هر یو کس ته خطاب دے د پاره د دے چه هر یو شخص په خپله فنا او د رب تعالیٰ په بقا باندے عقیده اوساتی ۔

ذُو الْجَلٰلِ مراد د دے نه عظمت او کبریا ده چه مستلزم ده استحقاق د مدح د الله تعالیٰ لره ۔ وَالْاِكْرَامِ دا مستلزم دے پاکتیا لره الله تعالیٰ لره د شریك او د هر قسم نقصاناتو نه ۔ اٰلَآءِ په دے کښ ډیر نعمتونه دی ۔ ع۱ فنا چه په سبب د هغے سره مؤمنان نعمتونو د جنت ته ورسیږی ۔ ع۲ او تذکیر په فنا سره او په هغے کښ ډیرے فائدے دی په عبادت کولو باندے ترغیب ، د دُنیا محبت د زړه نه ویستل ۔ د تکبر او ریا او حسد وغیره نه بچ کیدل ۔ په مصیبتونو باندے صبر کول ۔ د شرك او کفر او ګناهونو نه ویره کول ع۳ او د ټولو په فنا کښ برابروالے ۔ ع۴ او همیشه بقاء د الله تعالیٰ چه سبب د اطمینان د زړونو دے ۔ ع۵ او جلال او اکرام چه دلیلونه د توحید د ذات او د صفاتو دی ۔

۲۹ تا ۳۰ هرکله چه د فنا د مخلوق او بقا د الله تعالیٰ ذکر شوه نو پس دے ایت کښ د الله تعالیٰ استغناء او احتیاج د مخلوقاتو هغه ته ذکر کوی ۔ كُلَّ يَوْمٍ مراد د یوم نه هر وخت دے ۔ شَاْنٍ مراد د دینه هغه کارونه او تصرفات د الوهیت دی چه الله تعالیٰ ئے ښکاره کوی روستو د تقدیر نه دا ته چه اوس ئے شورو کوی او دا مقصد دے د هغه قول چه (شُئُوْنٌ يُّبْدِيْهَا لَا شُئُوْنٌ

سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

زر دے چه اوزګار به شم تاسو ته اے دوو درنو . تو ذکوم یو ذ احسانونو ذرب خپل

يَبْتَدِيُهَا) او هغه کارونه ، شپه او ورځ بدلول رابدلول څوک ژوندی کول څوک مړه کول ، ذچا نه غم او مصيبت لرے کول او په چا باندے راوستل ذ مصيبت او غم ، ذ چا ګناهونه معاف کول ، چا له عزت ورکول ، چا له ذلت ورکول ، څوک فقير کول ، څوک مالدار کول ، ذ چا دُعا قبلول ، او ذ چا رد کول ، چا له ځوئے ورکول ، چا له لور ورکول ، دغه شان بے شماره کارونه چه ذ هغے نه هيڅ وخت خالی نه وی .

اَلآء . ذ ټول مخلوق ذ حاجاتو ذ پوره کولو ذات يو دے او هر وخت ذ هر يو شخص څه کار کول او دا مشتمل دے په بے شماره نعمتونو باندے . او په دے کښ هم پنځه امور ذکر شول . ۱ يسئله ، ۲ من فی السموات ، ۳ والارض ۴ کل يوم ، ۵ فی شان . او په دے کښ ذ دُنيا ټولو نعمتونو ته اشاره اوشوه .

۳۱ ۳۲ ذ دنيوی نعمتونو نه روستو اخروی حالات ذکر کوی چه په هغے کښ هم نعمتونه دی او ګوره تخويفات (ويرے ورکول) هم دی . په دے آيت کښ وعد او وعيد دواړه دی کله چه سَنَفْرُغُ معنیٰ دا شی چه ستاسو ثوابونه ياعذابونه به څه پوره درکړم . او يا وعيد دے صرف کله چه معنیٰ دا وی زر دے چه زه به ستاسو سره حساب اوکړم . او ذ زجاج نه نقل دے چه فراغ دوه قسمه دے يو قسم ذ يو شغل نه اوزګاريدل دی دا معنیٰ ذ الله تعالىٰ په باره کښ صحيح نه ده ځکه چه هغه لره يو کار ذ بل کار نه نشی مشغول کولے هغه په يو وخت کښ په هر کار باندے قادر دے دويم قسم فراغ قصد کول او توجه کول دی يو کار ته دلته دا مراد دے . امام بخاری ذکر کړی دی چه مراد ذ دے نه حساب کول دی .

الثَّقَلٰنِ مراد ذ دے نه جن او انس دی ذ دے نوم (ثقلان) ديرے وجے دی اول دا چه ذ دوی دواړو شان ذ نورو حيواناتو نه اوچت دے ځکه چه مکلف دی په عبادت کولو سره دويمه وجه دا چه ذ دوی ذ بدنونو بوج په زمکه باندے دير دے په نسبت ذ نورو څيزونو سره دريمه وجه دا چه مراد ذ دے نه ګناهګاران دی چه په بوجونو ذ ګناه سره درانه دی . اَلآء په دے کښ نعمتونه دا دی . ۱ خبر ورکول ذ پاره ذ دے چه حساب ته ځان تيار کړی . ۲ په اطاعت باندے وعده ذ ثواب ورکولو . ۳ او په ګناهونو باندے رپاتے په بل مخ)

تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۲﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ

انکار کوئے تاسو ۔ اے ډلے دَ پیریانو او دَ انسانانو که چرے وَس لرئے تاسو

اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

دَ وتلو دَ غاړو دَ اسمانونو او زمکے نه

فَانْفُذُوْا ؕ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿۳۳﴾

نو او ځئ ۔ نه شئ وتلے مګر په زور سره ۔

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۴﴾ يُرْسَلُ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو ۔ رالیږلے کیدے شی به

سزا ورکول ، ۳۱ او دَ دواړو په مینځ په ېدله ورکولو کښ فرق کول ، ۳۲ او دَ دے دواړه نوعو (جن او نس) دَ نورمخلوق نه جدائي کول په مکلف کولو او په خطاب کولو سره ۔

سوال :۔ لکم جمع ده او ثقلان تثنیه ده ؟

جواب :۔ اشاره ده چه په دواړو نوعو کښ ډیر ډیر افراد دی ۔ او دا رنګ دوؤ نه هم خطاب دَ جمع صحیح دے ۔

۳۳ ـ ۳۴ داخطاب به په اٰخرت کښ وی ۔ او مراد دا دے چه دَ جزا نه په هیڅ طریقه نشی خلاصیدلے او اسمانو نه او زمکه دَ اٰخرت مراد دی ۔ یا دا خطاب اوس په دنیا کښ دے اشاره ده چه تاسو اوس هم عاجز یئ دَ الله تعالیٰ دَ قضا او تقدیر نه په ټول عالم کښ ، دَ تختیدلو هیڅ طرق نه شئ موندلے او نه دَ دے نه بهر وتلے شئ نو بیا ولے دَ الله تعالیٰ طاعت نه کوئ ۔ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ دا استثناء فرضی ده ځکه چه دَ انسانانو او پیریانو دَ پاره په الله تعالیٰ باندے قوت او غلبه ممتنع او محال ده ځکه دَ دے نه روستو وَاَنّٰى لَكُمْ پټ دے یا دا چه بِسُلْطٰنٍ کښ بآء په معنیٰ دَ لام سره ده یعنی هر طرف ته چه اوځئ نو هلته بادشاهی دَ الله تعالیٰ ده ۔ اٰلَآءِ دلته مراد دَ نعمتونو نه ۔ دَ ټولو انسانانو او پیریانو په عجز کښ برابرول او تنبیه کول پیرزوکولو او سره دَ لوئے قدرت دَ الله تعالیٰ نه معافی کول ۔ او دوی لره محدود طاقت ورکول دَ پاره دَ دے چه بغاوت او نکړی او نظام دَ دُنیا خراب نشی او ټولو لره دَ اسمان دَ لاندے او دَ زمکے دَ پاسه ځائے ورکول دی ۔

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾

په تاسو بانـدے خالص شغله د اور نه او تور لوگے نو بيا له په نشئ اخستلے تاسو۔

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٦﴾ فَإِذَا انشَقَّتِ

نو د کوم يو د احسانونو د رب خپل انکار کوئے تاسو۔ نو کوم وخت چه اوشليږي

السَّمَاءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿٣٧﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

اسمانونه نو شی په سور گلاب پشان د خرمنے رنگ کړے شوے۔ نو د کوم يو د احسانونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٣٨﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْأَلُ عَن

د رب خپل انکار کوئے تاسو۔ نو په دغه ورځ به تپوس نه شی کيدے د

۳۵ تا ۳۶ دا مستقل تخويف اخروی دے د مکذبينو د پاره خاص دے يا متعلق دے د فَانْفُذُوا سره يعنی که چرے بالفرض تاسو اوځئ نو راليږی به په تاسو باندے لمبے د اور يعنی د تللو طاقت نشئ لرلے۔ شُوَاظٌ شنے لمبے د اور چه لوگے ورسره خلط نه وی او سرو لمبو ته هم ويلے کيږی۔ وَنُحَاسٌ هغه لوگے تور چه لمبے ورسره نه وی او تانبه ويلے کړے شوے ته هم ويلے کيږی۔ آلاء دا تهديد دے مخکښ راتللو د عذاب ته او د مطيع او گناهگار جدائی په جزا سزا کښ او د مکذبينو د پاره قسما قسم عذابونه او مؤمنانو لره د هغے نه بچ ساتل او په دُنيا کښ د اور لمبے او لوگی پيدا کول د پاره د يادداشت د اور د آخرت دا ټول نعمتونه دی۔

۳۷ تا ۳۸ دا هم تخويف دے په ذکر د هيبت د قيامت سره۔ او په دے کښ جواب د وهم دے هغه دا چه دا اسمانونه او زمکے منع کوونکی دی انسان لره د نفوذ نه که دا لرے کړے شی نو بيا نفوذ کولے شی حاصل د جواب دا دے اسمانونه به اوچوی ليکن بيا هم دا انسانان نفوذ نشی کولے۔ فَإِذَا حرف د فا دلالت کوی چه تير شوی آيتونه د دنيا سره متعلق وو لکه چه مخکښ يو تفسير ذکر شو او اوس د دُنيا د فنا حال ذکر کوی او د آبادئ ورانيدل د يره طرف ته شورو کيږی د دے وجے نه ئے اول د آسمان انشقاق ذکر کړو او دا سے په سورة الحاقه ۱۶ او سورة فرقان ۲۵ او سورة انشقاق ۱ کښ هم ذکر کړے دی۔ وَرْدَةً سور گلاب ته ويلے کيږی او سور اس ته هم ويلے کيږی۔ كَالدِّهَانِ سره خرمنے ته (ړاڼے په بل مخ)

ذَنۡۢبِهٖۤ اِنۡسٌ وَّ لَا جَآنٌّ ﴿۳۹﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا

گناه د ډېرو مجرم د ېل انسان او نه د پېرې نه - نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل

تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۰﴾ یُعۡرَفُ الۡمُجۡرِمُوۡنَ بِسِیۡمٰهُمۡ

انکار کوئ تاسو - پېژندلے کیدلے به شي مجرمان په نښو د هغوی سره

ویلے شي یا جمع د دُهن ده تیلو ته ویلے شي یعني اسمانونه به سره شي پشان د گلاب او ویلے به شي او بهیږي به پشان د تیلو - او سور کیدل د اسمان به د دے وجے نه وي چه اور د جهنم ته به نزدے کړے شي او ماوردي ویلے دي چه اصلي رنگ د اسمان سور دے او د لرے والي د وجے نه شین ښکاره کیږي او چه نزدے شي نو په اصل رنگ به سور ښکاره کیږي - الآء - تنبیه په فنا سره - او د اسمانونو تراوسه پورے د فنانه بچ ساتل او بیا د قدرت په مظاهرے سره د هغه رنگ او حالت بدلول دا تذکره ټول نعمتونه دي -

۳۹ سنه دا هم تخویف اخروي دے حرف د فا دلالت کوي چه د اسمان د حالت بدلولو نه روستو به قیامت او ورځ د حساب شورو شي -

ابن کثیر ویلے دي چه مراد د دے نه د عذرونو دروازه بندول دي لکه په سورة مرسلات ۳۶ کښ دي یعني د لا یُسۡـَٔلُ نه مراد د عذر کولو تپوس دے یا مراد دا دے چه په اول وخت د حشر او دا رنگ په اوُرکښ د ننه د دوی د گناهونو تپوس نه نه کیږي بلکه په موقف د حساب کښ تپوس کیدلے شي -

او ابو العالیه نه نقل دے چه د ډېرو مجرم د گناهونو تپوس به د بل مجرم نه نشي کیدلے او اکثر مفسرینو ویلے دي چه د استعلام (یعني د ځان خبرولو) د پاره تپوس نیشته بلکه د زورنے د پاره به تپوس نه وي او د ابن قیم رحمه الله نه نقل دے چه د گناه د کولو تپوس به نه وي بلکه د هغے وجه او علت او د کیفیت د عمل تپوس به کیږي پدے توجیها تو سره د آیت د فَلَنَسۡـَٔلَنَّ الَّذِیۡنَ اُرۡسِلَ اِلَیۡهِمۡ (اعراف ۶) سره تعارض دفع کیږي او دا سے سورة قصص ۷۸ کښ هم تیر شوي دي -

الآء نعمتونه دا دي چه تپوس به مجرم پورے خاص دے - او د غیر مجرم تپوس صرف عرض دے او بیا معاف کول دي - او په تپوس کولو کښ مقصد تمییز د مجرم او د غیر مجرم دے - او پدے تپوس کښ مقصد الزام دے په مجرم باندے او اظهار د صفت د عدل د الله تعالیٰ دے -

فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ وَالْاَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

نو نیولے کیدے به شی دَ تندو نه او دَ خپو نه - نو دَ کوم یو دَ احسانا نو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۲﴾ هٰذِهٖ جَهَنَّمُ الَّتِيْ

دَ رب خپل انکار کوئے تاسو - دا جهنم دے هغه جهنم چه

يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۴۳﴾ يَطُوْفُوْنَ بَيْنَهَا

انکار کوؤ دَ دے نه مجرمانو - ځی راځی به دوی په مینځ دَ دے

س۴۱ س۴۲ دا تخویف اخروی دے یعنی روستو دَ سوال (حساب) نه سزا شورو کیږی.
بِسِيْمٰهُمْ یعنی هغه گناهونه به مصوّر شی دَ مجرمانو په بدنونو باندے او دا رنګ تور والے دَ مخونو لکه سورة العمران س۱۰۶ یونس س۲۷ ملک س۲۷ کښ او زرقت دَ سترګو لکه چه سورة طٰه س۱۰۲ کښ او ړوند کونړ ګونګے او په مخونو باندے رواني دل لکه سورة اسراء س۹۷ او فرقان س۳۴ کښ دی دا ټولے دَ دوی نښے به وی.
فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِيْ دا جمع دَ نَاصِيَةٌ ده هغه ویخته چه په تندی باندے اوېزان وی او دا سے ویخته ساتل طریقه دَ مجرمانو ده دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم نه مخالف ده او دا سے په سورة علق س۱۵ کښ دی . دا نیول به زبانیه ملائک کوی یا به ناصیه او قدمونه ور یو ځائے کړی او یو ملک به ئے اونیسی او جهنم ته به ئے او غورځوی یا دا چه یو ملک به ئے دَ ناصیه نه اونیسی او بل ملک به ئے دَ قدمونو نه اونیسی لکه سورة ق س۲۴ کښ تثنیه تیره شویده کله چه هغه پخپله معنیٰ مراد کړے شی.
اٰلَآءِ نعمتونه دا دی چه دَ مجرمانو نښے ئے دَ غیر مجرمانو نه جدا کړے دی . او طریقه دَ عذاب دَ مجرمانو ئے سخته کړے ده . او دَ امتیاز دَ نښو دَ وجے نه ملائک به غیر مجرم لره نه نیسی.
س۴۳ س۴۴ س۴۵ هر کله چه ذکر شو نیول دَ مجرمانو دَ سر او خپو نه نو اوس ذکر کوی محل دَ ګذارولو دَ هغه چه جهنم دے . او يُقَالُ دَ دے نه مخکښ مراد دے
يُكَذِّبُ بِهَا دا حکایت دَ حال ماضیه دے لیکن په مضارع راوړلو کښ اشاره ده که دوی له بیا مهلت ورکړے شی نو ائینده به هم تکذیب کوی . (رپائے پہ بل مخ)

وَبَيْنَ حَمِيمٍ اٰنٍ ﴿۴۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

او په مینځ د خوټکیدونکو اوبو سختو گرمو کښې۔ نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل نه

تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۵﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾

انکار کوئے تاسو۔ او هغه چا د پاره چه ویریږی د پیش کیدلو د رب خپل نه دوه قسمه باغونه دی۔

بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيمٍ یعنی جهنم چه طبقه د اور ده او ځائے د حمیم طبقه د خوراك څښاك ده د دے دواړو په مینځ کښې ډیر ځی راځی یعنی د اور نه به ته مړیږی نو بیا بیا به ځی راځی او آرام به ورته نه ملاویږی۔ اٰنٍ په دیکښې درے توجیه دی اوّل دا چه په معنیٰ د هغه اوبو چه ډیرے سختے گرمے به وی چه هغه به په پشان د مهل گرځیدلے وی دویمه وجه دا په معنیٰ د پخے کړے شوے په اور باندے ځکه چه اَنِيْ پخولو ته ویلے کیږی۔ د کوم وخت نه چه جهنم پیدا کړے شویدے د هغه وخت نه دا اوبه په اور باندے پخیږی۔ دریمه وجه اٰنٍ په معنیٰ د حاضر دے یعنی دا اوبه به جهنم والو ته هر وخت حاضرے وی۔

اٰلَآءِ په دے تخویف کښې نعمتونه دادی۔ چه په دے سره ځوك نصیحت واخلی نو د شرك او کفر او گناهونو نه ځان بچ کوی۔ او دارنگ د دے په وجه سره په طاعت کولو کښې رغبت کوی۔ او دارنگ په دیکښې ایمان بالغیب دے۔ او په دیکښې تمیز دے په مینځ د مجرمانو او غیر مجرمانو کښې او دا عدل د الله تعالیٰ دے۔ او اشاره ده چه اور د دنیا او اوبه د دنیا لوے نعمت دے لیکن د ناشکرئے کولو په وجه سره په جهنم کښې دغه نعمتونه په شکل د عذاب کښې دی۔

۴۶ ۔ ۷۷ په دیکښې بشارت دے روستو د ذکر د تخویف اخروی نه او دا ټول د جنت نعمتونه ذکر کوی۔ دوه قسمه جنتونه ذکر کوی ځکه چه د رب العزت نه خوف کوونکی دوه قسمه مؤمنان دی یو السابقون او دویم اصحاب الیمین او هر قسم جنت سره یوڵس یوڵس نعمتونه ئے ذکر کړی دی۔

وَلِمَنْ خَافَ په تقدیم د لِمَنْ کښې اشاره ده چه جنتونه بغیر د خوف الهی نه نشی حاصلیدلے او دا سے په سورة ابراهیم ۱۴ او سورة نازعات ۴۰ کښې هم ذکر دی۔ او دا خوف حاصلیږی په طاعت کولو سره فرائض ادا کول او د گناهونو نه اجتناب کول او ډیر استغفار او توبه کول۔ او لفظ د مَنْ عام دے

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۷﴾ ذَوَاتَاۤ اَفۡنَانٍ ﴿۴۸﴾

تو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو ، ډیرو څانګو والا به وی

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۴۹﴾ فِیۡهِمَا عَیۡنٰنِ

تو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو ۔ په هغے کښ قسما قسم چینے دی

جن او انس دواړو ته شامل دے او په دے سورت کښ دواړه مخاطب دی نو ابن کثیر ذکرکوی چه دا دلیل دے چه پیریان مؤمنان به هم جنت ته داخلیږی پشان دَ انسانانو ۔ مَقَامَ رَبِّهٖ مقام په زور دَ میم سره مصدر میمی او ظرف دواړه راځی نو چه مصدر میمی وی نو یا مضاف دے فاعل ته یا مفعول ته او چه رَبِّهٖ فاعل شی نو مراد دَ قیام دَ رب نه علم او قدرت او ننه پیږ دَ هغه دے مخلوق لره لکه سوره رعد ۳۳ کښ دی او که مفعول شی نو په تقدیر دَ عند یا بین یدی سره دے یعنی قِیَامَهٗ عندَ ربه یا بین یدی ربه یعنی اودریدل دَ بنده دَ رب العزت په مخکښ په ورځ دَ قیامت او که صیغه دَ ظرف مکان شی نو اضافت په تقدیر دَ لام سره دے یعنی ځائے دَ اودریدلو دَ بنده چه دَ رب دَپاره دے او هغه پورے خاص دے ۔ جَنَّتٰنِ په دے تثنیه کښ ډیر اقوال مفسرینو ذکرکړے دی لیکن غوره دا ده چه دا تثنیه دَ تکرار او دَ کثرت دَپاره ده یعنی ډیر جنتونه دی دَیو قِسم نه او دَ دے وجے نه روستو فیهن ضمیر دَ جمع ذکرکړے دے ۔ او هر یو جنت په بے شماره نعمتونو باندے مشتمل دے چه په هغے باندے لفظ اٰلَآءِ دلالت کوی ۔ ۴۸ ۴۹ دَ دے ایت نه صفتونه دَ دے جنتونو ذکرکوی ۔ دا اول صفت دَ دے اَفْنَانٍ جمع دَ فنن ده څانګو ته ویلے کیږی یا جمع دَ فن ده رنګ او نوع او قِسم ته ویلے کیږی په دویم احتمال سره معنیٰ دا چه قسما قسم نعمتونه په کښ دی ۔

اٰلَآءِ هر کله چه دغه څانګے په پاڼو او په میوؤ او سورو او په زینت او په ډیرو فائدو باندے مشتمل دی دَ دے وجے نه هغے ته یے په اٰلَآءِ سره اشاره اوکړه ۔

تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۱﴾

چه بهیږی په - نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو -

فِيْهِمَا مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿۵۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ

په دوی کښ به دَ هرے میوے نه دیر قسمونه وی - نو دَکوم یو دَ احسانونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۳﴾ مُتَّكِـِٔيْنَ عَلٰى فُرُشٍۭ

دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو - ارام په کوی دوی په بسترو باندے

بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ۚ وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ

چه استرونه دَ هغے په دَ غټو ریښمتو نه وی او میوے راټولول دَ دے باغونو

ف۵۰ ۵۱ په دے کښ دویم صفت ذکرکوی - دَ حسن بصری په روایت سره یو چینه دَ تسنیم او بله دَ سلسبیل ده یا دلته هم تثنیه دَپاره دَ تکثیر ده -

تَجْرِيٰنِ یعنی دَجنت په ټولو مکانونو او بوټو او باغونو کښ به همیشه بهیږی او هیڅرے به نه کمیږی او نه به اوچیږی او په دے کښ بے شماره نعمتونه دی چه هغے ته ئے په لفظ اٰلآء سره اشاره اوکړه -

ف۵۲ ۵۳ په دے کښ دریم صفت ذکرکوی -

زَوْجٰنِ بعض مفسرینو دَ دے مثال په رطب او یا بس سره ذکرکړے دے او بعض صرف په دوه قسمونو پورے تخصیص کړے دے لیکن صحیح دا ده چه تثنیه کښ معنیٰ دَ کثرت ده او مراد دَ دے نه بے شماره قسمونه دی یعنی په یو قسم میوه (لکه انګور) کښ به بے شماره قسمونه وی، دا رنګ په انار او کجورو وغیره کښ چه دَ هغه قسمونو شمار او کیفیت باندے یو الله تعالیٰ علم لری -

(مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ لَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ)

دَ دے وجے نه لفظ اٰلائے ورپسے ذکرکړے دے -

دَانٍ ﴿۵۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِيْهِنَّ

نږدې دي. نو د کوم یو د احسانو تو د رب خپل نه انکار کوئ تاسو. په دې باغونو کښې به

قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ اِنْسٌ قَبْلَهُمْ

(رنا نه) ځکته کوونکی وی سترګے خپلې نه به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښې د دوی نه

وَلَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾

او نه هیڅ پیرے. نو د کوم یو د احسانو تو د رب خپل نه انکار کوئے تاسو.

۵۴ تا ۵۵ په دې کښې څلورم نعمت (مُتَّكِئِيْنَ) او پنځم (عَلٰى فُرُشٍۭ) او شپږم (بَطَآئِنُهَا) او اُوم (وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ) ذکر کړے دے. هر کله چه یو خوړونکی له خوراك د میوؤ پوره مزه هغه وخت ورکوی چه تکیه ئے په خائسته فراشونو باندې وهلے وی د دے وجے نه په طریقه د حال سره ئے متکئین ذکر کړو. اِتِّكَاء د روغ رمټ او بے غمه شخص حالت وی په ډډه وهلو یا په پړلت وهلو سره. بَطَآئِنُهَا د دے مقابل ظهائر دی او هغه ئے ذکر نه کړو یا خو هغه د سندس نه جوړ دی لکه سورة کهف ۳۱ او سورة دخان ۵۳ کښې اشاره ده یا دا چه بطائن (استرونه) چه عادةً په دنیا کښې د معمولی کپړے نه جوړیږی لیکن په جنت کښې به هغه د اعلی کپړے نه وی چه استبرق دے نو د ظهائرو علم د الله تعالی سره دے هغه د انسان په علم کښې اوس نشی راتلے. وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ. جَنٰی یا مصدر سره دے راټولول د میوؤ یا مبنی للمفعول دے یعنی میوے راټولے کړے شوے.
دَانٍ یعنی هغه اونه او غنچکونه او میوے د هغے به جنتی شخص ته رانږدے کیږی لکه سورة الحاقه ۲۳ او سورة الدهر ۱۴ کښې دی او د اِتکاء سره ئے یو ځائے ذکر کړو د دے د پاره چه څوك وهم اونکړی چه میوے راغستلو سره به دوی ته تکلیف وی ورپسے به ودرېږی او تکیه به ترینه پاتے شی لکه د دنیا حال چه دے نو دا وهم ئے دفع کړو. او دے ډیرو نعمتو ته ئے په اٰلآءِ سره اشاره اوکړه.
۵۶ تا ۵۷ په دې کښې اتم او نهم نعمت ذکر کوی. فِيْهِنَّ دا ضمیر راجع دے جنتان ته ځکه چه مراد په هغے سره جمع ده لکه چه مخکښې بیان شو او بعض مفسرینو دا ضمیر راجع کړے دے فرش ته لیکن هغه مناسب نه دے (پاتے په بل مخ)

كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿٥٨﴾ فَبِأَيِّ آلَآءِ

گویا که دوی دی یاقوت (په رنګ کښې) او مرجان (په صفائۍ کښې) - نو د کوم یو د احسانونو

ځکه چه هیڅ سره علیٰ یکار دو - قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ دَ دے موصوف حذف دے یعنی نِسَاءٌ یَاحُوْرٌ لیکن هر کله چه عادت داد ے چه دَ لویو خلقو زنانه په صفاتو سره ذکر کیدے شي دَ دے وجے نه دلته یې هم صفات ذکر کړل - قَاصِرَاتُ یعنی په غیر دَ خپلو خاوندانو نه په بل چا نه نظر نه کوځوی دَ ډیرے حیا دَ وجے نه او دا خائسته صفت دَ زنانو دے او الطَّرْفِ یې ذکر کړو العین یې ذکر نه کړو اشاره ده چه طرف دَ نظر بل چا ته نه اړوی نو ټوله سترګه خو په طریقه اولیٰ سره نه اړوی -
لَمْ يَطْمِثْهُنَّ - طمث په اصل کښې هغه دم (وینې) ته ویلے شي چه په وخت دَ جماع دَ پکرے سره ښکاره کیږی نو مراد داد ے چه دوی به پکرے وی دَ دے خاوندانو نه وړاندے هیڅ پیری او انسان دَ دوی سره جماع نه ده کړے او اشاره ده چه هر وخت دَ جماع کولو کښې به دوی بکرے وی -
او ابن کثیر ویلے دی دا دلیل دے چه پیریان به هم جنت ته داخلیږی او دَ هغوی دَ پاره دَ جنس دَ هغوی نه بیبیانے دی ځکه که دَ دوی جنت ته داخلیدل نه وے نو دَ دوی دَ جماع دَ کولو بیا هیڅ فائده نیشته -
او قرطبی ویلے دی چه دا دلالت کوی چه جنات دَ انسانانو دَ زنانو سره هم جماع کولے شي لکه بعض احادیث ظاهرة هم پدے باندے دلالت کوی - او دا صفتونه حورو دَ جنت او دنیوی زنانو (چه جنت ته داخلے شي) ته شامل دی - او پدے کښې هم بے شماره نعمتونه دی دَ دے وجے نه آلآء یې ذکر کړے دے -
۵۸ ۵۹ پدے تشبیه کښې دوه نعمتونو ته اشاره ده (رسم او بؤ لسم) یاقوت قیمتی جوهر دے ډیر صفا او سور رنګ والا او ویلے شوی دی چه هغه په اور سره نه سوزیږی - او مرجان ترے ملغلرے چه ډیرے سپینے او صفا وی - نو پدے کښې مراد ډیر خائست او صفائی دَ هغوی ده دَ یاقوت سره تشبیه په صفائۍ کښې او دَ مرجان سره په سپین والی کښې ده یا دَ یاقوت سره په سور والی او دَ مرجان سره مشابهت په صفا والی کښې دے - او په دے باره کښې صحیح احادیث ابن کثیر او شربینی نقل کړے دی - او پدے کښې ډیر نعمتونو ته اشاره ده - دَ هغوی خائست - او صفائی - او حیا او ادب - او دَ خاوندانو خوشحالی په هغوی

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۹﴾ هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ

ذَرب خپل نه انکار کوئ تاسو. نه ده بدله ذَ توحید (اخلاص)

اِلَّا الْاِحْسَانُ ﴿۶۰﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۱﴾

مگر جنت دے. نو ذَکوم یو ذَ احسانونو ذَرب خپل نه انکار کوئ تاسو.

وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿۶۲﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

او سیوا ذَ دوی نه نور قسما قسم باغونه دی. نو ذَکوم یو ذَ احسانونو ذَرب خپل نه

سره. او په هغوی په عمر تیر بیدالو سره بدالی نه راتلل وغیره ذَ دے وجے نه لفظ ذَ الآء ئے ذکر کړو.

۶۰ ۶۱ پدیکښې ذکر ذَ علت ذَ ماقبل نعمتونو دے په اول لفظ چه احسان دے ذَ انس اوجن ذَ طرف نه او دارنگ په دیکښې په دویم لفظ احسان کښې تو روبے شماره نعمتونو او احسانا تو ذَ الله تعالیٰ ته اشاره ده. ځکه چه په روایت ذَ ابن عباس رضی الله عنهما کښې راغلے دی چه نیشته جزاء ذَ هغه چاچه لا اله الا الله وائی او عمل کوی په سنت ذَ نبی صلی الله علیه وسلم مگر جنت دے دا خطیب شربینی ذکر کړے دے او فراء په تفسیر معالم التنزیل کښې په سند سره مرفوع حدیث راوړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت اولوستلو بیا ئے تپوس اوکړو چه تاسو پوهیږئ چه ستاسو رب څه فرمائیلی دی دوی اُوئیل الله تعالیٰ او رسول ښۀ پوهه دے نو هغه اوفرمائیل چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی چه نیشته جزاء ذَ هغه چاچه ما انعام کړے دے په هغه باندے په توحید سره مگر جنت دے. او لفظ الآء کښې هغه نعمتونو ته اشاره ده چه دویم لفظ احسان په هغے باندے دلالت کوی.

۶۲ ۶۳ ذَ دے آیت نه دویم قسم جنتونو ته په بشارت کښې ذکر کوی ذَ دویم قسم مؤمنانو ذَ پاره او ذَ دے هم پوشتن صفات راوړی. وَمِنْ دُوْنِهِمَا لفظ ذَ دُوْنِ بنکاره دلالت کوی چه دا جنتونه ذَ مخکنو نه په فضیلت او درجاتو کښې کم دی. او ابن کثیر دا ذَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے دے او وجه ذَ کم والی به روستو ذکر کړے شی انشاء الله تعالیٰ. او حکیم ترمذی او بعض ر پانے په سبل مخ)

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٣﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿٦٤﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

نو ذکوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو، تک شنه په وی.

تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٥﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿٦٦﴾

انکار کوئے تاسو. په دے کښی چینے دی فوارے وهونکے په وی (اوبه راویستونکی په زور سره)

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦٧﴾ فِيْهِمَا

نو ذکوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکارکوئے تاسو. په دے کښی

علماؤ نه نقل کړے شوے دہ چه

دُوْن په معنیٰ دَ نزدے دے عرش دَ الله تعالیٰ ته او دا جنتونه دَ مخکنو نه افضل او غوره دی لیکن دا قول دَ ظاهر دَ قرآن نه خلاف دے. جَنَّتَانِ دلته هم تثنیه دَ پاره دَ تکرار او دَ ډیروالی دہ یعنی دا قسم جنتونه هم ډیر دی او ډیرو نعمتونو باندے مشتمل دی او لفظ اٰلآء کښی دیته اشاره دہ.

۶۴-۶۵ دا اول صفت دَ جنتان دے هرکله چه اونے بوټی او چمنونه ډیر شنه او تازه وی نو تور ښکاره کیږی دیته ادهیمام ویلے کیږی. نو په دے کښی اشاره دہ ډیروالی دَ اونو او بوټو او چمنونو ته او ډیره تازګی او ډیر شین والی ته او دا سبب دے دَ خوشحالئ او تازګئ دَ نظر او بیا دَ زړه دَ پاره. نو دا ډیر نعمتونه دی دیته اشاره دہ په لفظ دَ اٰلاء سره.

۶۶-۶۷ دا بل صفت دَ جنتونو دے.

نَضَّاخَتَانِ نضخ په خآ سره ډیره مبالغه دہ دَ نضح نه په حآ سره ځکه نضح صرف شیندل او ترمکیا ته ویلے کیږی او نضخ په خآ سره فوارے دَ اوبو ته ویلے کیږی چه هغه په تیزئے سره راوځی.

نو دا چینے په ډیرے اوبه او مشک او خوشبوئ او خیر او برکت په جنتیانو باندے راتولی او دا هم ډیر نعمتونه دی دَ دے وجے نه دلته هم لفظ اٰلآء اُویلے شو.

فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

میوے دی او کجورے او انار دی ۔ نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل نه

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿۷۰﴾

انکار کوئے تاسو ۔ په دے کښ به غوره بیبیانے خائسته شکلونو والا وی ۔

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئے تاسو ۔ حورے دی بندے ساتلے شوے

۶۸ ۔ ۶۹ دا بل صفت دے او په دے کښ درے انعامات ذکر کوی ۔
وَنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ دا عطف دے په فاکهة باندے او عطف مغایرة غواړی نو معلومه شوه چه دا دواړه فواکه نه دی او دا قول د امام ابوحنیفه رحمه الله دے په باب د قسم کولو کښ او صاحبان د هغه او نور باقی ائمه محدثین وائی چه دا خو اعلیٰ د فواکهو نه دی او دا عطف تخصیص بعد التعمیم دے او داسے په قران کښ ډیر واقع دے او د دے د تخصیص د پاره ډیرے وجے دی اوله وجه دا چه په زمانه د نزول قران کښ حجاز علاقه کښ دا دواړه ډیر موجود وو کجورے به د پاره د غذا او انار به د پاره د میوے استعمالیدل ۔ دویمه وجه دا ده چه دا دواړه په اوړی او ژمی کښ موجود وی او په کښ ډیرے فائدے دی ۔ دریمه وجه دا ده چه په کجوره کښ د تفکه سره غذائیت هم دے او په انار کښ د تفکه سره دوائی هم ده او په دے نورو کښ بے شماره نعمتونه دی د دے وجے نه ورپسے تعبیر په الآء سره اوکړے شو ۔
۷۰ ۔ ۷۱ دا بل صفت دے په ذکر کولو د نورو نعمتونو سره ۔ خَيْرٰتٌ صفت دے د ازواج (ربی) د پاره جمع د خیرت په تخفیف د یاء سره نو معنیٰ دا ده چه ذوات الخیرات یعنی خاوندانے د خیر او د فائدو دی یا جمع د خیّرت ده په تشدید د یاء سره بیا پکښ تخفیف کړے شوے دے نو معنیٰ دا چه غوره اخلاقو او صفاتو والا دی او حِسَانٌ په معنیٰ د دے چه بدنونه او مخونه به ئے ډیر خائسته دی او هرکله چه الله تعالیٰ چه خالق د حسن دے د هغوی د حسن صفت ذکر کړو نو معلومه شوه چه د هغه حسن انتها او مثال نیشته او په دیکښ د هغه ازواجو ډیر باطنی او ظاهری صفتونو او نعمتونو اشاره ده چه هغه ته الآء ویلے کیږی شی ۔

فِي الْخِيَامِ ﴿۷۲﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۷۳﴾

په خېمو (دَ ملغلرو کښې) - نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو ۔

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿۷۴﴾

نه به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښې دَ دوی نه او نه پیرے

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۷۵﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو ۔ آرام به کوی دوی په

۷۲-۷۴ دا نور صفات دَ هغه ازواجو دی. مبتدا محذوف ده یعنی هُنَّ حُوْرٌ جمع دَ حوراء ده ښځه سپین رنګ والا ته ویلے کیږی چه دَ سترګو تور ئے ښه تور وی او سپین والے ښه سپین وی ۔ مَقْصُوْرَاتٌ بنده سا تل دَ حفاظت او دَ اکرام دَپاره دی او مدح دَ زنانو په ستر او پردے سره کیږی او چه پخپل کور کښې اوسی او بے ضرورته په لارو کوڅو کښې نه ګرځی ۔ فِي الْخِيَامِ مراد دَ دے نه دَ هغوی کورونه او محلونه دی۔ او خطیب شربینی ویلے دی چه څلور لرګی او درولے شی او دَ پاسه دربانده څه څانګے او بوټی واچولے شی نو دیته خیمه ویلے کیږی۔

او چه دَ ورړئے او ریښم وغیره نه جوړه شی نو هغې ته خباء ویلے کیږی، لیکن دَ جنت دَ هغې خیمے تفسیر په حدیث صحیح کښې راغلے دے او دلته هغه مراد دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی، چه دَ مؤمن دَپاره په جنت کښې خیمه ده دَ یو ملغلرے ږ ده نه چه اوګدوالے دَ هغې شپیته میلونه دے او دَ دے مؤمن به په هغې کښې اهل وی چه دے به په هغوی باندے چکر لګوی او هغوی به یو بل لره نه وینی، دا دَ مسلم روایت دے او په دے ایت کښې دَ حور ډیر صفتونه ذکر شول او دا نعمتونه هم دی چه هغې ته په لفظ دَ آلاء سره اشاره شوی ده ۔

۷۶-۷۷ دا صفت دَ مخکنو او دَ دوی دواړو شریک دے ځکه چه دَ دے وصف په نیشتوالی سره په لذاتو کښې ډیر کمے طبعًا او عادةً محسوس کیږی او دا هم په ډیرو آلاء باندے مشتمل دے لکه چه مخکښې تیر شوی دی ۔

رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ فَبِاَيِّ

نو ډکوم یو ; خاتسته بالښتې او قالینونو شنو خادرونو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾ تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ

دَ احسانونو دَ رب خپل ته انکار کوئ تاسو - برکتونو والا دے نوم دَ رب ستا

۷۷-۷۶ دا نور صفتونه دَ جنتیانو ذکرکوی یعنی تیرشوی نعمتونه به دوی ته حاصلیږی سره دَ ارام نه رَفْرَفٍ خُضْرٍ رفرف په اصل کښې ماخوذ دے دَرَفّ نه په معنیٰ دَ ارچت والی او حرکت کولو سره دے او په معنیٰ دَ تازګئ سره هم راځی - او مراد دَ دے نه هغه څادرونه دی چه په بستره باندے غوړولے شی یا بالختونه یا چمنونه دَ جنت - وَعَبْقَرِيٍّ کل دار څادرونه یا بسترے چه ډیرے نا اشنا وی خلیل وئیلے دی چه هر کامی او نفیس او عمده څیز ته وئیلے شی که انسان (رنګے) وی او که کپړے جامے وی وغیره. ابن الانباری وئیلے دی چه عبقر یو ځائے دے چه په هغے کښې به ډیر پیریان وؤ نو هغه ځائے نا اشنا ګنړلے کیدلو نو دَ هر عجیبه او نا اشنا څیز په دوی عبقر ته نسبت کوؤ یا په یمن کښې یو ښار وؤ چه په هغے کښې دَ کپړو خکلونه کیدل - دا هم په ډیرو نعمتونو او دَ زړه په خوشحالو باندے مشتمل دے دَ دے وجے نه دے ته ئے اٰلَآءِ او فرمائیل -

فائده :- دَ ذکر کړے شوو نعمتونو دَ تقابل نه په ډیرو وجهو سره معلومیږی چه روستنی جنتونه دَ مخکنو ذکر کړے شوو نه کم دی - اوله وجه دا ده چه دَ مخکنو دَ پاره ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ذکر دوؤ چه دلالت کوی په ډیر اونو باندے او روستنو کښې مُدْهَآمَّتٰنِ چه صرف شین والی ته اشاره ده دویمه وجه دا ده چه په مخکنو کښې تجریان ذکر کړے دوؤ او دَ روستنو په باره کښې نضاختان دو او جاری کیدل غوره دی په نسبت دَ فوارے وهلو په یو ځائے باندے - دریمه وجه هلته مِنْ كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ذکر دوؤ او دلته فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ذکر دے لفظ دَ کل او دا رنګ زوجیت دَ میوؤ دلالت کوی په ډیروالی دَ اقسامو او فَاكِهَةٌ نکره دلالت کوی په کم والی باندے -

څلورمه وجه هلته دَ حورو په صفت کښې قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ دے نو هغه افضل صفت دے په نسبت دَ مقصورات باندے - (پاتے په بل مخ)

ذِی الۡجَلٰلِ وَالۡاِکۡرَامِ ﴿۷۸﴾

چه لوئے شان والا دے او عزتونو والا دے.

پنځم وجه هلته دَ معنوی حسن او جمال او صفاتي دَپاره دَ تشبیه وه دَ یاقوت او مرجان سره او دلته صرف خیراتٌ حسان ذکر دے.

شپږمه وجه هلته دَ تکیه دَپاره فرش او دَ هغې دَ بطائنو صفت ذکر کړے وُو او دلته صرف رفرف (غالیچې یا بالختونه) ذکر کړے دی. لیکن دا ټول په اعتبار دَ ظاهر سره ترجیحات دی په دے کښې داسے احتمالات هم شته دے چه په هغې سره دَ روستنو ترجیح ثابتیږی. (والله اعلم)

ف دا تفریع ده په ټول سورت باندے او تفصیل دَ دعوے دَ سورت دے. په لفظ دَ تَبَارَكَ کښې اشاره ده چه دا مخکښې ذکر کړے شوی نعمتونه پیدا کول او هغې له ترقی او بقا ورکول دا صفت خاص دَ الله تعالیٰ دے او دا رنګ دا ټول انعامات دلالت کوی په عظمت او لوئیئ دَ الله تعالیٰ باندے نو صفت دَ ذی الجلال ئے راوړو او دا انعامات دلالت کوی په سخاوت او مهربانئ دَ الله تعالیٰ باندے نو صفت دَ الاکرام ئے ذکر کړو.

اسۡمُ رَبِّكَ مراد دَ اسم نه په دے مقام کښې الرّحمٰن دے چه دَ سورت په اول کښې دے او دا رنګ هر اسم دَ اسماءِ حسنیٰ نه موصوف دے په تبارک سره. یعنی دا نوم چه الرّحمٰن دے او تشریح دَ هغې په دے سورت کښې ذکر شوه ډیر دَ برکتونو والا دے نو په دے کښې اشاره ده لکه چه ذات دَ الله تعالیٰ موصوف دے په تبارک سره دَ قرآن کریم په اته ایاتونو کښې نو دا رنګ اسم دَ هغه هم دے.

ذِی الۡجَلٰلِ وَالۡاِکۡرَامِ صفت دَ رب دے یعنی جلیل دے په اعتبار دَ ذات سره او اکرام والا دے په اعتبار دَ افعالو سره داسے قرطبی ذکر کړے دی یا اهل دے دَ اجلال چه عصیان ئے او نکړے شی او اهل دے دَ اکرام چه بندګی دَ هغه خاص کړے شی دا معنیٰ ابن کثیر ذکر کړے ده.

فائده:۔ قاسمی په تفسیر کښې ذکر کړے دی چه برکات نومونو دَ الله تعالیٰ له واجب دی (په هغه الفاظو سره چه حروفو هغه نه مرکب وی) مونږ تبرکه حاصلوؤ دَ هغې په ذکر او په تعظیم سره او دَ هغه دَ نوم اجلال او اکرام

په کوڅه دغه نوم ونه په کاغذ کښې لیکلے شوے وی یا په دیوال وغیره کښې منقوش وی یا په ژبه یادنے ذکر کیږی. او چاچه دَ نوم دَ الله تعالیٰ اکرام او اجلال او نه کړو (بلکه توهین ئې دَ هغې قصدًا او کړو) نو هغه بیشکه کافر دے نو ایت په خپل ظاهر یاندے حمل دے په غیر دَ تاویل نه (ردائې دَ ابن حزم رحمه الله نه نقل کړے دے).

خَتم شو تفسیر دَ سورة رحمٰن په فضل او کرم دَ الله تعالیٰ سره

او اے ذالجلال والاکرام مونږ ستا نه خاص

او عام رحمتونه هر وخت غواړو په

وسیله دَ نوم ستا چه

رحمٰن دے

سورة الواقعة ۵۶ مکیة ۴۶	بسم الله الرحمن الرحیم	آیاتها ۹۶ رکوعاتها ۳

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ① لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا

کوم وخت چه واقع شي واقع کیدونکې . تیښته د واقع کیدلو د هغې نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الواقعه

ربط د دے سورت د سورة رحمٰن سره په ډیرو وجو سره دے اوله وجه دا چه په هغه سورت کښې اثبات د رحمانیت او برکاتو د الله تعالیٰ د پاره وو نو په دے سورت کښې رد د شرک فی البرکات کوی په طریقه د تسبیح سره. دویمه وجه دا چه په هغه سورت کښې تخویف اخروی او بشارت اخرویه ذکر کړے شو نو په دے سورت کښې د هغې اهل ذکر کوی. دریمه وجه دا چه هلته یې د جنتونو دوه قسمونه ذکر کړل نو په دے سورت کښې د اهل جنت دوه قسمونه ذکر کوی السابقون او اصحاب الیمین. څلورمه وجه دا چه د هغه سورت په ابتدا کښې نعمت د قرآن ذکر کړے دے او د دے سورت په آخر کښې عظمت د قرآن ذکر کوی.

دعویٰ د دے سورت :- تسبیح د الله تعالیٰ ده چه په دوه کرته یې ذکر کوی په ۷۴ او ۹۶ کښې لکه سورة رحمان کښې د ده صفتونه ذکر شول . یو الرحمان دویم تبارك . او اثبات د دے تسبیح کوی په ذکر د انعاماتو د تربیت د انسان سره او په انزال د قرآن سره.

خلاصه د سورت ، دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۵۶ پورے دے په دے باب کښې اته حالات د قیامت ذکر کوی تر ۶ پورے بیا تقسیم د اهل حشر ذکر کوی درے ډلو ته په ۸ ۹ ۱۰ کښې بیا د فریق اول چه سابقون دی د هغوی لس بشارات ذکر کوی تر ۲۶ پورے بیا د دویم فریق چه اصحاب الیمین دی اته بشارات ذکر کوی تر ۴۰ پورے بیا د دریم فریق چه اصحاب الشمال دی شپږ عقوبات (تخویفًا) ذکر کوی او په مینځ د هغې کښې درے علتونه د عذاب راوړی.

كَاذِبَةٌ ۝٢ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ۝٣ إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ

ټیټ انکار - ځکه کوی به بعضو خلقولو پورته کوی به بعضو لره کوم وخت چه او جر قولے شی زمکه

تفسیر ۱ إِذَا ظرفیه دے یا شرطیه دے که ظرفیه شی نو په هغے کښ دوه احتمالونه دی اول احتمال دا دے چه لفظ دَ اذکر مقدر دے دویم دا چه مابعد دَ دے په تاویل دَ مصدر سره مبتدا ده او دویم إِذَا سره دَ مابعد نه په تاویل دَ مصدریت سره خبر دے نو معنیٰ دا ده چه وخت دَ واقع کیدلو دَ واقعے چه موصوف په مابعد صفتونو سره وخت دَ جرقیدلو دَ زمکے دے سرهٔ دَ روستو حالاتو ذکر شوۀ نه او که شرطیه شی نو په جزاء کښ دوه احتمالونه دی اول احتمال دا چه روستو اذا دَ دے نه بدل دے او فَأَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ دَ دے جزاء ده دویم احتمال دا دے چه دَ دے جزاء محذوف ده (لَتُجَازُنَّ حَسَبَ حَالَاتِكُمْ)۔

الْوَاقِعَةُ دا نوم دے دَ نومونو دَ قیامت نه لکه چه سورة الحاقه ۱۵ کښ هم ذکر دی الف لام دَ پاره دَ کمال او تا دَ پاره دَ مبالغے ده او دے ته واقعه په دے وجه ویلے کیږی چه وقوع دَ دے یقینی دے یا دا چه په دیکښ ډیرے سختے واقع کیدونکی دی۔ او بعضو علماؤ ویلی دی چه الواقعه نه مراد دویمه شپیلئ وهل دی۔

۲ پد یکښ تاکید دَ وقوع دَ واقعه دے۔ لِوَقْعَتِهَا لام وقتیه دے یعنی په کوم وخت چه واقعه واقع شی۔ یا دا لام صله دَ كَاذِبَةٌ دَ دے او دا اسم فاعل دے دَ مکذبة په معنیٰ سره نفسٌ مكذّبةٌ دا په اول توجیه بنا دے دے یا کاذبة په معنیٰ دَ مصدر (کذب) سره دے او تاء دَ پاره دَ مبالغے ده او دا په دویمه توجیه بنا دے۔

۳ دا خبر دَ مبتدا محذوف دے یعنی هی او خَفْضٌ او رفع صفتونه دَ مکان او دَ مرتبے او دَ آواز دَ پاره راځی۔ په اعتبار دَ مکان سره معنیٰ دا ده چه ښکته کوی بعض قومونه جهنم ته او پورته کوی به بعض قومونه جنت ته او جهنم کوز دے او جنت پورته دے او په اعتبار دَ مرتبے سره معنیٰ دا ده کوزوی به دشمنان دَ الله تعالیٰ (یعنی په ذلت سره) او اوچتوی به دوستان دَ الله تعالیٰ (یعنی په عزت سره) او په دے دواړو توجیهاتو سره اسناد دَ خفض او رفع قیامت ته اسناد مجازی دے او په اعتبار دَ آواز سره معنیٰ دا ده چه دا (شپیلئ) به ښکته آواز درکوی نزدے خلقو ته او اوچت آواز به ورکوی لرے خلقو ته۔

رَجًّا ﴿۴﴾ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ﴿۵﴾ فَكَانَتْ

په سخت خوځولو سره، او ذرې ذرې به کړې شي غرونه په ذرې ذرې کولو سره، نو شي به

هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ﴿۶﴾ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ﴿۷﴾

دوړه الوځولې شوې او شئ به تاسو درې قسمونه.

فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ﴿۸﴾

نو ښي لاس والا خلق څه لوئې شان دے د ښي لاس والو.

سک اِذَا بدل دے د مخکښ اِذَا نه یا ظرف دے د پاره د خافضة رافعة یا اذا شرطیه او جزاء یې فاصحاب المیمنة ده. رُجَّتِ رجّه هغه سخت خوځیدل دي چه د هغې سره آواز او زیات لے کیدیشي او مراد ترینه زلزله ده په ټوله زمکه باندے لکه سورة زلزال کښ او د سورة حج په اول ایت کښ ذکر شوے ده.

ف سک دا حال د غرونو ذکر کوی چه دا هم او نکړے شي چه په زمکه باندے غرونه د میخونو پشان دي نو دا به څه رنګ ټوله او خوزیږی نو او فرمائیل شو چه غرونه به هم ختم شي. بسًّا ذرے ذرے کیدل او کړه وړه کیدل د یوبل سره. یا چلیدل د مخ د زمکے نه. یا د وینښ نه ویستل دے ټولو معانو ته شامل دے. هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا هغه دوړه چه د خپو د اسونو نه په وخت د تیز رفتارئے د هغوی کښ را اوچته شي او بیا خوره او روکه شي. دا رنګ هغه شعاع د نمر چه په یو سوری کښ داخل شي نو ذرات پکښ ښکاری او دا رنګ هغه. بخری د اور چه اوچت شي نو بیا ورک شي. او دا دلیل دے په فنا کیدلو د غرونو سره.

ث دا تقسیم د خلقو دے په اعتبار د عقیدے او د عملونو سره نو دا رنګ بیا په اعتبار د جزاء سره لیکن په دُنیا کښ دوی مخلوط وو او هریو د خپلے طریقے تعریف کوو نو تقسیم په دنیا کښ پوره ښکاره شوے نه وو او په آخرت کښ به پوره ښکاره شي. اَزْوَاجًا هر یو کس به د خپل مثل سره (په عقیده او عمل کښ) یو ځائے کړې شي د دے وجے نه ازواج ورته اُووئیلے شول مراد ترینه قسمونه دی.

ف سک دا تفصیل د اقسام ثلثه دے نو په دیکښ اول فریق ذکر کوی. الْمَيْمَنَة د یمین نه ماخوذ دے یعنی ښے طرف. مراد دا دے چه په ښي لاس

وَأَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ مَآ أَصۡحَٰبُ ٱلۡمَشۡـَٔمَةِ ⑨

او کینړ لاس والا خلق خومره بد دے حال د کینړ لاس والا۔

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ⑩ أُوْلَٰٓئِكَ

او مخکښ کیدونکی ایمان ته (په دنیا کښ) مخکښ داخلیدونکے په وی جنت ته (په آخرت کښ)، دغه کسان

ٱلۡمُقَرَّبُونَ ⑪ فِي جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ⑫ ثُلَّةٌ

پوره نزدے کړے شویدی۔ په جنتونو د نعمتونو کښ به وی۔ ډلے دی

کښ عمل نامه په ورکیدے شی یا دا چه ښی طرف د میدان حشر ته په روان کړے شی ځکه چه ښی طرف ته جنت دے۔ یا دا چه په عالم الذر او په شپه د معراج کښ د آدم علیه السلام ښی طرف ته وو۔ یا دا د یُمن نه اخستلے شوید ے یعنی خیر او برکت والا دی او نیک بخت دی۔ مَا استفهام دے د پاره د تعظیم د حال د هغوی او اصحاب المیمنة مبتدا ده او ما اصحاب المیمنة خبر دے اصل عبارت داسے وو اصحاب المیمنة ما هم نو د ضمیر په ځائے باندے اسم ظاهر کیخودو د بیان د عظمت شان د پاره۔

سلا په دے کښ دویم فریق ذکر کوی۔ اَلْمَشْئَمَة شمال (کس) طرف ته ویلے کیږی یعنی دوی له به په کس لاس کښ عمل نامه ورکیدے شی یا دا چه په کس طرف د میدان حشر به روان کړے شی ځکه چه هغه طرف ته جهنم دے یا دا چه دوی په عالم الذر او په شپه د معراج کښ د آدم علیه السلام کس طرف ته وو۔ یا ماخوذ دے د شُوْم نه بد بختئ ته ویلے کیږی یعنی دوی شقیان او بد بخت دی۔

سلا دا دریم فریق دے۔ والسابقون مبتدا او دویم ئے خبر دے یا دویم تاکید دے او اولئك المقربون ئے خبر دے اوله توجیه غوره ده خو فرق د مبتدا او خبر دا دے چه د اول نه مراد سبقیت کوونکی دی د خیر کارونو ته په دنیا کښ او د دویم نه مراد وړاندے داخلیدونکی جنت ته په ورځ د قیامت کښ۔

وَالسَّابِقُوْنَ په دے کښ ډیر اقوال دی د مفسرینو۔ ۱ انبیاء علیهم السلام دی۔ ۲ په هر امت کښ صحابه د انبیاؤ علیهم السلام۔ ۳ زمونږ د امت صحابه کرام۔ ۴ هغه صحابه چه قبلتین ته ئے مونځونه کړے وو۔ ۵ سبقیت کوونکی (پاتے په بل مخ)

مِّنَ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۱۳﴾ وَقَلِيْلٌ مِّنَ الْاٰخِرِيْنَ ﴿۱۴﴾

دَ مخکنو امتونو نه او لږ دي دَ روستنو نه .

عَلٰى سُرُرٍ مَّوْضُوْنَةٍ ﴿۱۵﴾ مُّتَّكِـِٔيْنَ عَلَيْهَا

په تختونو باندې به وي چه اودلې شوې به وي دَ تارونو دَ سرو زرو نه، تکيه به وهي په هغې باندې

مُتَقٰبِلِيْنَ ﴿۱۶﴾ يَطُوْفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

يو بل ته مخامخ به وي . ګرځي راځي به په دوي باندې هلکان

پخه مونځو نو ته، ۷ سبقيت کوونکي جهاد ته، ۸ هغه شخص چه دَاول ځوانئ دَ عمر نه په صحيح دين کښ لګيدلې دې ترمړګه پورې .

ابن کثير ويلي دي چه دا ټول اقوال صحيح دي. يعنې دا لفظ دې ټولو ته شامل دې.

الْمُقَرَّبُوْنَ دَ دوي درجې به عرش ته او الله تعالىٰ ته ډيرې نزدې وي.

فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ متعلق دې په المقربون پورې يعنې دَ دوي نزديکت به په جنت کښ وي يا دا مستقله جمله ده په تقدير دَ مبتدا سره (ربه خلوت).

۱۳ ۱۴ په اولين او اخرين کښ دوه اقوال دي اول دا چه دَاولين نه دَ تير شوو پيغمبرانو (سابقون) صحابه مراد دي او انبياء عليهم السلام ډير وو نو دَ هغوی دَ صحابو مجموعه شمار ډير دې او اٰخرين نه مراد زمونږ دَامت صحابه کرام دي دوي اګرچه فى نفسه ډير دي ليکن په نسبت دَ مجموعه تير شوو باندې کم دي. دويم قول دا چه دَاولين نه مراد زمونږ دَامت سابقون (صحابه) دي او دَ اخرين نه مراد په دې امت کښ هغه خلق دي چه ايمان او اتباع دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې سبقت کړې دې او دَ صحابه کرامو په نقشِ قدم باندې روان دي، نو دوي دَ صحابه کرامو نه لږ دي .

او ابن کثير روستو قول غوره کړې دې او ډير احاديث يې دَ دې امت په فضيلت باندې ذکر کړې دي.

۱۵ ۱۶ مبتدا حذف ده (هم) موضونة او دَلې شوي دَ سرو زرو نه او ملغلرو او ياقوتو نه مراد دَ دې نه مصفوفة دې. مُتَقٰبِلِيْنَ مجلس کښ به يو بل ته مخامخ وي مينځ کښ به يې پرده نه وي او اشاره ده چه دَ يو بل نه به چرې نه خفه کيږي او مرتبې به يې هم يو بل ته نزدې وي.

مُّخَلَّدُوْنَ ﴿۱۷﴾ بِاَكْوَابٍ وَّ اَبَارِيْقَ ۙ وَ كَاْسٍ

چه همیشه په هلکان وی په ګلاسونو او جګونو سره او پیالے ډکے ډ

مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿۱۸﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿۱۹﴾

شرابو خالصو نه ، نه به سر درد راځی په دوی باندے د هغے نه او نه به اُلتے (رټی) کوی

ش۱۷ ش۱۸ وِلْدَانٌ مراد دینه د مشرکانو هغه بچی دی چه مخکښ د بلوغ نه مړه شوی دی او په بل قول کښ ورسره واړه د مسلمانانو هم مراد دی. یا مراد هغه دی چه په جنت کښ د خدمت د جنتیانو د پاره پیدا کړے شوے دی. مُخَلَّدُوْنَ همیشه به وی فنا به وربانده نه راځی او نه به زړیږی او نه به د حالت خپل نه بدلیږی. او هغه هم دی چه هغوی ته کالی (زیورات) اچولے شوی وی. بِاَكْوَابٍ دا متعلق دے په يطوفون پورے. اکواب جمع د کوب ده هغه لوښے د څښلو د پاره چه د هغے کړۍ او سنت نه وی یعنی څښل د هغے نه په یو طرف پورے خاص نه وی بلکه د هر طرف د هغے نه څښل کیدے شی او د هغے مثال ګلاسونه دی. او اَبَارِيْقَ جمع د ابریق ده هغه لوښے دے چه د هغے کړۍ او سنت یو طرف ته وی نو نیول ئے اسان وی او د هغے مثال جګونه دی او د برق نه ماخوذ دے یعنی د هغے رنګ به بریښنا او چمک کوی.

وَكَاْسٍ دائے مفرد ذکر کړو اشاره ده چه شراب به په ډیرو ګلاسونو او جګونو کښ تیار وی لیکن د محبت د وجے نه به دوی په یو کاسه باندے څښل کوی.

مَعِيْنٍ د چینے پشان جاری به وی یا ښکاره او ډیر به وی یعنی نچوړولو ته به ئے حاجت نه وی.

ش۱۹ لَا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا ماخوذ دے د صداع نه درد سر ته ویلے کیږی. یا ماخوذ دے د تصدع نه په معنیٰ د تفرق سره یعنی دغه شراب به د دوی د تفرق د پاره سبب نه وی.

وَلَا يُنْزِفُوْنَ نزف بے هوشی او عقل زائل کیدلو ته ویلے کیږی او قے کولو ته هم ویلے کیږی. د ضحاک نه روایت کړے شوے دے چه په خمر د دنیا کښ څلور ناکاره اوصاف دی. درد سر، قے کول، نشه کیدل، بول راتلل، او شراب د جنت د دے ټولو قبا ئحو نه پاک دی.

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ

او په میوو کښې به وی دَ هغه قسم نه چه دوی یې خوخوی ، او په غوښو دَ مارغانو کښې به وی

مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَالِ

دَ هغه قسم نه چه دوی یې غواړی. او (دوی لره به وی) حورے خائسته سترګو والا، پشان دَ

اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَاءً بِمَا كَانُوا

ملغلرو پټو ساتلے شوو . بدله ورکیدلی شی په سبب دَ هغه عملونو سره

سنا دا عطف دے په اکواب بانددے او با جاره محذوف ده.

يَتَخَيَّرُونَ مراد دا چه ډیرے میوے او ډیر قسمونو به وی نو هر څوک به دَ خپلے خوښے مطابق دَ هغې نه خوری یا مراد دَ دے نه غوره او بهتر ده.

او ابن کثیر ویلے دی چه دَ دے نه معلومه شوه چه هر کله طعام کښې مختلف اقسام وی او په شریکه سره خوړے کیږی نو هرچاله جائز دی چه دَ خپلے خوښے دَ بل چا دَ مخے نه راواخلی. هاں هر کله چه یو قسم طعام وی نو بیا به صرف دَ خپلے مخے نه خوراک کوی اودا رنګ په سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښې هم راغلے دی.

سا سوال :- څه حکمت دے چه دَ فواکه سره يتخيرون او دَ لحم سره یې يشتهون ذکر کړو ؟

جواب : په دنیا کښې چه هر کله دا دواړه خیز ونه اوګی شخص ته وړاندے کړیشی نو دَ ده غوښے ته اشتها کیږی او هر کله چه موړ شخص ته پیش کړے شی نو دَ هغه میلان فواکه ته کیږی. او اهل جنت خو خوراک دَ لوګے دَ وجے نه نه کوی بلکه دَ تفکه دَ وجے نه کوی نو دَ دے وجے نه فاکهه یې دَ لحم نه وړاندے ذکر کړه په خلاف دَ ترتیب دَ دُنیا سره.

سا ۲۳ دا معطوف دے په ولدان بانددے یا خبر دَ مبتدا محذوف دے (لهم).

الْمَكْنُونِ چه پټه ساتلے شوے وی او دوړو باندے نه وی لګیدلے او لاسونه ورته نه وی رسیدلی. او اشاره ده چه په زنانو کښې بهتر صفت پټه ساتل دی یعنی سترګول او محفوظ کیدل دی.

يَعْمَلُوْنَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّ لَا

چه دوی کول . نه به اوری دوی په هغې کښې بې فائدې خبرې او نه دَ

تَأْثِيْمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿٢٦﴾ وَأَصْحٰبُ

گناه خبرې مګر وینا به وی سلام سلام . او ښی لاس

الْيَمِيْنِ ۙ مَآ أَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿٢٧﴾ فِيْ سِدْرٍ

والا خلق څه لوئې شان دے دَ ښی لاس والو . (دوی به دوی) په بېرو

۲۴ جَزَآءً مفعوله دے یا مفعول مطلق دے دَ فعل محذوف دَپاره اوپه دیکښې اشاره ده چه دَ دوی دَپاره خوراک اوخوړے خائسته اوصفا دَ دے وجې نه دی چه دَ دوی عملونه هم خائسته اوصفا وو ځکه چه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی.

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ اعمال ظاهری سبب دے دَجزاء دَپاره اورحمت دَ الله تعالی سبب حقیقی دے دَ دے وجې نه دواړو ته نسبت دَجزاء صحیح دے.

۲۵ ۲۶ مخکښې جزاء ثبوتی وه او دا جزاء سلبی ده دَ دے وجې نه دَ دے عطف ئې په مقابل بانديے نه دے کړے او په دے سلب کښې اتمام دَ نعمتونو ته اشاره ده هغه دا چه دَ خوراک څښاک اوبیبیانو په نعمت سره خو انسان خوشحاله وی لیکن چه دَ چا نه بده خبره واوری نو هغه ټوله خوشحالی وربانديے اورشی دَ دے وجې نه ئې دا صفتِ سلبیه په آخرکښې دَ اتمامِ نعمت په طور سره ذکر کړو.

لَغْوًا لکه سورة غاشیه ۱۱ کښې دی لغو هغه کلام دے چه په هغې کښې هیڅ فائده نه وی برابره خبره ده که گناه پکښې وی او که نه وی او تَأْثِيْمًا هغه کلام دے چه په هغې سره انسان گنهگار گرځی لکه دروغ ، بهتان ، غیبت وغیره . اودا رنګ تاثیم یو بل ته دَ گناه (فسق وفجور وغیره) نسبت کول.

سَلٰمًا سَلٰمًا تکرار نه مراد تکثیر او ډیر والے دے. سَلٰمًا مراد دَ دینه هغه خبرے دی چه سالم وی دَ عیب او دَ نقصان او دَ گناه نه . یا مراد دے نه سلام کول دی دَ طرف دَ الله تعالی او ملائکو نه او دَ یو بل دَ طرف نه او دَ إِلَّا قِيْلًا استثناء منقطع ده.

۲۷ دا ذکر دَ دویم قسم مؤمنانو دے یعنی عام مؤمنان . او دَ دوی اته بشارتونه ذکر کوی. اصحاب الیمین ورته دَ دے وجې نه ویلے کیږی (پاتے په بل مخ)

مَّخْضُوْدٍ ﴿۲۸﴾ وَّطَلْحٍ مَّنْضُوْدٍ ﴿۲۹﴾ وَّظِلٍّ

بې ازغو کښې | او په کیلو کښې چه لاندې پاندې جوخته به وی، | او په سوري

مَّمْدُوْدٍ ﴿۳۰﴾ وَّمَآءٍ مَّسْكُوْبٍ ﴿۳۱﴾ وَّفَاكِهَةٍ

اوږدو کښې | او په اوبو روانې کړې شوې په مخ د زمکه باندې، | او په میوو

كَثِيْرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقْطُوْعَةٍ وَّلَا مَمْنُوْعَةٍ ﴿۳۳﴾

ډیرو کښې | چه نه به ختمیږی | او نه به ترینه منع کیدې شی

چه په ښی لاس نو کښې ورته عملنامه ورکیدې شی یا د دې وجې نه چه د میدانِ حشر ښی طرف ته به جنت وی. په ابتداء کښې ورته اصحاب المیمنة ویلی وو ځکه چه یُمن (سعادت) سبب دې د اصحاب الیمین کیدلو د پاره نو اول ئې سبب اوبیا ئې مسبب ذکر کړو. مَا أَصْحَابُ الْيَمِيْنِ د دوی د عظمت شان د پاره دې.

۲۸ تا ۲۹ تا ۳۰ تا ۳۱ خبر د مبتدا محذوف دې. مَخْضُوْدٍ چه ازغی پکښې نه وی یا چه ډیر بار والا وی. طَلْحٍ جمع د طلحة ده اونې د کیلې ته ویلی کیږی.

مَنْضُوْدٍ یعنی میوې به په هغه اونه پورې داسې لاندې پاندې انښتې وی چه تنه به ئې ټوله پټه وی.

مَمْدُوْدٍ په حدیث صحیح (ابن کثیر ورته متواتر ویلی دی) سره ثابت ده چه سور شخص په هغه سوری کښې سل کاله مزل اوکړی نو هم ئې آخر ته نشی رسیدلې. یا دا چه همیشه سورې به وی په نمر سره نه ختمیږی. د دې ذکر په سورة نساء ۵۷ اوسورة رعد ۳۵ او سورة مرسلات ۴۱ کښې هم دې.

مَسْكُوْبٍ چه د دوی په کورونو او باغونو کښې به هر وخت جاری وی او د زمکې په سر باندې به بهیږی نو نه به اوچیږی او نه به بوقې او رسئ ته ضرورت وی.

۳۲ تا ۳۳ كَثِيْرَةٍ اقسام او افراد د هغې به ډیر وی لَا مَقْطُوْعَةٍ یعنی په اوړی یا ژمی وغیره سره به نه ختمیږی بلکه همیشه به وی لکه په سورة رعد ۳۵ کښې دی. وَلَا مَمْنُوْعَةٍ یعنی د هغې نه به هیڅ قسم منع کوونکې نه وی بلکه ازغی به هم نه وی او لرې به هم نه وی چه کوم وخت غواړی نو راغستلې به شی. مراد د دې ټولو صفتونو دا دې چه د دُنیا د میوو نه بالکل په صفتونو کښې جدا دی.

وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾ إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ

او په بسترو اوچتو درجو والا کښې به وی. یقینًا پیدا به کړو موږ زنانو لره

إِنشَاءً ﴿٣٥﴾ فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾

په نوی پیدائش سره، نو جوړے به کړو دَ دوی نه جینکے محبت ښکاره کوونکے همزولے

۳۴ مراد دَ دے نه فراشونه (قالینونه) دی. مَّرْفُوعَةٍ اوچت به وی مکان دَ هغے اګر چه په وخت دَ کیناستلو کښې به کوزیګی یا قدر او شان ئې اوچت دے یا مراد دَ فُرُشٍ نه بیبیانے دی ځکه چه عرب خلق دَ زنانو نه کله تعبیر په فرش او کله په لباس سره کوی او دَ هغوی حسن جمال او شان به اوچت وی. او مراد دَ دینه دنیوی بیبیانے دی او دَ دے وجے نه صفت دَ فراشیت په دنیا کښې په هغوی کښې ښکاره وؤ او په دے تفسیر باندے روستو جمله هم دلالت کوی.

۳۵، ۳۶، ۳۷ إِنشَاءً نوے پیدائش نه مراد دا چه دنیوی صفات او اخلاق (چه بدالنږے کیږی) هغه به ترینه زائله کړے شی.

فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا دا په زنانه کښې ډیر افضل صفت دے دَ دے وجے نه مستقل ئې ذکر کړو. یعنی اګرچه په دُنیا کښې بوډئې شوے او زړه شوے وی لیکن په جنت کښې به هغه نوے جینئ وی. او په حدیث دَ ترمذی کښې هم راغلی دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم په طریقه دَ مزاح سره اوفرمائیل چه بوډے ګانے به جنت ته نه داخلیږی نو بوډئې چه واؤریدل نو په ژړا شوه نو نبی صلی الله علیه وسلّم اوفرمائیل 'آیا دے دا آیت نه دے اوریدلے'. اشاره ده چه په نصوصو کښې اکثر اوصاف مقصد وی. لکه چه حدیث راځی چه جنت ته به نمام قتات (چغلخور) نه داخلیږی نو مراد دا چه په دے صفت سره به نه داخلیږی دا صفت به ترینه په مغفرت دَ الله تعالیٰ سره لرے شی یا به په جهنم کښې څه وخت دَ پاره داخل شی نو په سزا سره به دا صفت دَ هغه نه لرے شی.

(مزاح کول خوشطبعی کول سرهٔ دَ رشتیا وئیلو نه دا دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په خائسته اخلاقو کښې داخل دی).

عُرُبًا دا دَ عَرُبَ نه اخستلے شوے دے په معنیٰ دَ ښکاره کولو یعنی دا زنانه به خپل محبت خاوند ته ښکاره کوی دَ مینے په خبرو سره (پاتے په بل مخ)

لِّأَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٣٨﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِيْنَ ﴿٣٩﴾

ښۍ لاس والـــو لـــره - دوی ډلے دی دَ مخکنو امتونو نه

وَثُلَّةٌ مِّنَ الْآخِرِيْنَ ﴿٤٠﴾ وَأَصْحٰبُ الشِّمَالِ

او ډلے دی دَ روستنو نه - او کـــيـڼ لاس والا -

مَا أَصْحٰبُ الشِّمَالِ ﴿٤١﴾ فِيْ سَمُوْمٍ

څومره بد دے حال دَ کيـڼ لاس والو - په ګرمو هواګانو کښې

وَّحَمِيْمٍ ﴿٤٢﴾ وَّظِلٍّ مِّنْ يَّحْمُوْمٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ

او خوټکيدلو اوبو کښې به وی، او په سوری کښې دَ لوګی نه نه به يخ وی

او په نازکولو او په ځان ښائسته کولو سره دَ دے وجے نه مفسرينو دا ټولے معانے ذکر کړے. اَتْرَابًا په زنانو کښې اتراب او په نارينو کښې اقران استعماليږی. نو دا زنانه به ټولے دَ يو بل سره هم عمر وی او دا رنګ دَ خاوندانو سره به هم همزولے وی او په حديث کښې وارد دی چه دَ درے ديرش کالو په عمر يانده به وی. او دا صفتونه به په دوی کښې هميشه وی.

٣٨ تا ٣٩ تا ٤٠ لِّأَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ دا متعلق دے دَ اَنْشَأْنٰهُنَّ سره يا دَ اَتْرَابًا سره ځکه چه په حديث سره ثابت دی چه نارينه دَ جنت به هم دَ درے ديرش کالو په عمر کښې وی. يا خبر دے دَ مبتدا محذوف (هٰذه النعم) دا ټول نعمتونه به دَ دوی دَ پاره وی. الْأَوَّلِيْنَ مخکښې امتونه يا دَ دے امت نه زمانه دَ صحابو مراد ده او الآخرين نه دا امت ټول يا دَ دے امت روستو خلق مراد دی.

٤١ دَ دے نه تخويف اخروی شورو دے په ذکر دَ شپږ حالات دَ هغوی سره دَ درے علتونو نه. الشِّمَالِ عملنامه به ګس لاس کښې ورکيدیشی او جهنم به هم دَ ميدانِ حشر ګس طرف ته وی دَ دے وجے نه ئے دوی ته اصحاب الشمال اُويل روستو دَ اصحاب المشئمه ويلو نه يعنی شُوْم سبب دے دَ کيدلو دَ دوی دَ شمال والو نه.

٤٢ تا ٤٣ تا ٤٤ سَمُوْمٍ هغه هوا ده چه ډيره ګرمه وی او په مساماتو دَ بدن کښې ورننوځی. ظِلٍّ سورے ئے ورته استهزاءً ويلے دی يعنی تور لوګی به پشان دَ سوری ښکاره کيږی.

وَلَا كَرِيْمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ

او نه په فائده مندوی. یقیناً دوی وو مخکښې دَ دې نه

مُتْرَفِيْنَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوْا يُصِرُّوْنَ عَلَى الْحِنْثِ

ډیر مست په مالونو دَ دنیا. او وو دوی چه همیش والے کوو په ګناه

یا به دَ دوی په ګمان کښې دَ اول وخت نه سورے ښکاریږی. يَحْمُوْمٍ ډیر تور لوګے دا ماخوذ دے دَ حمم نه سکارو ته ویلے کیږی یا دَحمّه نه ګرځی ته ... ویلے کیږی او تورشی اشاره ده چه جهنم هم تور او لوګے یے هم تور او دَ جهنمیانو مخونه به هم تور وی ځکه چه په دنیا کښې دَ دوی عقیدے او اعمال ظلمات او تور وو. او په دے ترتیب کښې اشاره ده سخت او همیشه عذاب ته ځکه چه دوی دَ اور دَ ګرمئ نه تنګ شی نو هوا به غواړی نو هغه به سموم وی نو بیا به اوبه غواړی نو هغه به هم حمیم وی نو سورے به غواړی نو هغه به هم ګرم او بے فائدے وی نو معلومه شوه چه دوی له په هیڅ وخت کښې دَ عذاب نه خلاصے نیشته. او دَ ظل تفصیل په سورة مرسلات ۳۰ ۳۱ ۳۲ ۳۳ کښې هم شته. وَلَا كَرِيْمٍ بے فائدے ته ویلے کیږی او دا رنګ خوګ او خائسته منظر والا نه وی یعنی دَ اصلی سوری صفتونه به پکښې نه وی.

۴۵ دا اول سبب دَ عذاب دَ دوی دے مُتْرَفِيْنَ اتراف دَ دنیا په نعمتونو او مزو او شهواتو سره ډیر مشغولتیا نه ویلے کیږی تر دے پورے چه دَ دین نه بالکل ناخبره شی او دَ توحید او سنت نه تکبر کوی. او قرطبی اتراف په حرام مال پورے خاص کړے دے او په دے کښې سرمایه دارانه نظام ته اشاره ده چه هغه جړ دَ ټولو کفریاتو دے.

فائده :- دَ دے فریق دَ عذاب اسباب تفصیلاً او دَ فریق اول دَ جزاء سبب اجمالاً یے ذکر کړے دے او دَ اصحاب الیمین دَ جزاء سبب یے نه دے ذکر کړے دَ دے په حکمت کښې ویلے شویدی چه مجرمانو له سزا ورکول عدل دے نو که چرے اسباب یے ذکر نه کړے شی نو خلق به وهم اوکړی چه دا ظلم دے او صالحینو ته جزاء ورکول خو فضل دَ الله تعالی دے لیکن بیا هم وهم راتلو چه په السابقون او اصحاب الیمین باندے دَ فضل کولو په ریاتے په بل مخ)

الْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا

لویئ یا ندے . او دوی به ویل اَیا کوم وخت چه مونږ مړه شو او شو

تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾

خاورے او هډوکی اَیا مونږ به دوباره ژوندی کیدلے شو .

أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ

او اَیا پلاران زمونږ زاړه . ته اووایه یقیناً مخکښ خلق

دغه سره فرق اوکړے شو نو دَ اول فریق سره یئے اجمالی سبب په ۲۴ کښ ذکر کړو اشاره ده چه دَ فضل سره تفاوت دَ عملونو ته هم اعتبار دے او عملونه دَ فریق اول ډیر اوچت او قابل ذکر وو او دَ فریق ثانی جزاء خو صرف په فضل دَ الله تعالیٰ سره ده .

۴۶ دا دویم سبب ذکر کوی او دا مرض دَ عامو مشرکانو دے که مالداروی او که فقیر وی . يُصِرُّونَ اصرار نه مراد همیش والے په گناه کولو باندے دے چه توبه دَ هغے ته نه اوباسی او دَ ثواب کار یئے نه کړی عَلَى الْحِنْثِ دا لفظ دَ ذنب نه زیاته معنیٰ لری ځکه چه په دیکښ معنیٰ دَ ماتولو دَ لوظ ده نو گناهِ کبیره پورے خاص دے صغیره باندے اطلاق نه کیږی . او په بلوغ باندے دَ حنث اطلاق مجازی دے ځکه چه بلوغ وخت دَ گناهګار کیدلو دے او تحنّث په معنیٰ دَ ډه کول دَ گناه او دَ گنهګارو نه دے نو عبادت کولو ته ویلے کیږی .

الْعَظِيمِ هر کله چه گناه کبیره کښ مرتبے دی نو دا لفظ یئے دَ دے وجے ذکر کړو چه دلالت اوکړی چه اکبر الکبائر مراد دے چه هغه شرک دے . او هر کله چه اتراف سبب دَ اصرار دے (نو په توبه کولو ته فارغ نه دی) دَ دے وجے نه مترفین یئے په یصرون باندے مخکښ ذکر کړے دے .

۴۷ ۴۸ دا ذکر دَ دریم سبب دے انکار کول دَ بعث بعد الموت نه او دا دَ لویو جاهلانو عقیده ده ځکه چه دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او دَ علم نه انکار کوی . او په دیکښ همزه دَ استفهام درے کرته دَ ډیر استبعاد دَ پاره ذکر کړے دے چه دا دَ عقل او عادت نه لرے خبره ده .

الْأَوَّلُونَ کښ اشاره ده چه هغوی به ذرے ذرے شوے وی . او دا سے

وَّالْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۹﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ

او روستو خلق ضرور راغونږ به کړے شی مقرر وخت د ورځے ته

مَّعْلُوْمٍ ﴿۵۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ

معلوم دی (صفتونه) د هغے - بیا په یقینًا تاسو اے گمراهانو

الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿۵۱﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ

انکار کوونکو ضرور خوړونکی یئ د اونے د

زَقُّوْمٍ ﴿۵۲﴾ فَمَالِئُوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿۵۳﴾

زقوم نه نو ډکه وونکی به د هغے نه خیټے خپلے .

استفهام دَدوی په ډیرو سورتونو کښ تیر شوے دے لکه (سورة مؤمنون ۸۲ سورة صافات ۱۶، ۱۷)

۴۹ تا ۵۰ په دے کښ جواب دَاستفهام دَهغوی دے او په دے جواب کښ تاکید او ترقی ده په حرف دَ اِنَّ سره او په ذکر دَ اٰخِرِيْنَ سره او په ذکر دَ لام قسم سره او په تعبیر دَ مجموعون سره او په لفظِ میقات او یوم او معلوم سره یعنی صرف بعث به نه وی بلکه جمع دَ ټولو خلقو په یو میدان په یو وخت او په یو ورځ کښ به وی. مَّعْلُوْمٍ نه مراد په علم دَ الله تعالیٰ کښ هغه ورځ معینه ده یا مراد دا چه صفتونه دَ هغے په قرآن کښ بیان شویدی.

۵۱ ۵۲ ۵۳ روستو دَ اسبابو ذکر کولو نه درے عذابونه ذکر کوی دَ دے نه مخکښ ئے درے عذابونه ذکر کړے دی په هغے کښ اشاره ده چه هوا کانے او اوبه او سوری دَ جهنم فائده نه ورکوی او په دے کښ اشاره ده چه خوراک څښاک دَ هغے هم څه فائده نه ورکوی. الضَّآلُّوْنَ په دے کښ اشاره ده مرض دَ شرک ته چه په الحنث العظیم کښ ذکر شو او الْمُكَذِّبُوْنَ کښ اشاره ده انکار دَ بعث بعد الموت ته چه مخکښ ذکر شو.

مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ دَ هغے صفات په سورة صافات ۶۲ او سورة دُخان ۴۳ کښ ذکر دی.

فَمَالِئُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه دَ مریدلو فائده به ورتے په یل مخ)

فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ۝٥٤ فَشٰرِبُوْنَ

نو څښونکي به د هغې د پاسه د خوټکېدلو اوبو نه . نو څښونکي به

شُرْبَ الْهِيْمِ ۝٥٥ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ

پشان د څښلو د جل وهلو اوښانو . دا میلمستیا د دوی ده په ورځ

الدِّيْنِ ۝٥٦ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ۝٥٧

د جزا . موږ تاسو پیدا کړي یئ نو ولې تصدیق نه کوئ .

نه ورکوی او نقصان به پکښې ډیر وی په سبب د ډکیدلو د خیټو سره . مِنْهَا شجر جمع د شجرة ده د دے وجے نه مؤنث ضمیر ئې راجع کړو او په تانیث کښې دوی ته ډیره زورنه ده ځکه دوی به د تانیث نه نفرت کوؤ .

۵۴ ۵۵ روستو د خوراک نه د څښلو حال ذکر کوی . عَلَيْهِ ضمیر راجع دے خوراک ته یا زقوم ته او فا دلالت کوی چه دا خوراک د زقوم سبب دے د اوبو څښلو د پاره د دے وجے نه چه زقوم به ډیر تریخ او ډیر ګرم وی او د دوی په مرئې کښې به په اسانه سره نه تیریږی نو د دے وجے نه به دوی اوبه څښلو ته محتاج شی فَشٰرِبُوْنَ اشاره ده چه پشان د خوړلو د زقوم دا څښل هم هیڅ فائده نه ورکوی د پاره د تندے لرے کولو . الْهِيْمِ د هيام نه ماخوذ دے یو مرض دے د اوښانو چه اوبه څښی او نه مړیږی هغې ته جل وهلی وائي او هِيْم جمع د هيمان ده جل وهلے اوښ ته وئیلے کیږی یا جمع د هيام ده هغه ډیرے د شګو چه اوبو سره نه سیراب کیږی او نه مړیږی . او په دے تشبیه کښې د دوی ډیر قباحت ته اشاره ده . ځکه چه تشبیه د ادمیانو سره او هغه اوښ چه مرضی وی او د حالت د څښلو سره دا پوهول بد ګڼړلے کیږی .

۵۶ نُزُلُ هغه خوراک څښاک چه میلمه ته اول پیش کیږی او بیا روستو ورته مقصدی خوراک څښاک په عزت سره پیش کیدلےشی نو چه نُزُلُ ئې دومره قبیح دے نو روستو خوراک څښاک حال خو به د دے نه هم ناکاره وی او په نُزُلُ سره تعبیر په دوی پورے تهکم او مسخره کول دی .

۵۷ د دے ایت نه دویم باب دے تر اخره پورے پد یکښې څلور عقلی دلیلونه د تربیت سره متعلق ذکر کوی او د هر نعمت سره زوال ته هم

أَفَرَءَيْتُم مَّا تُمْنُونَ ﴿٥٨﴾ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ

ایا سوچ کړے دے تاسو په هغه نطفه باندے چه اړوئ په رحم کښ - ایا تاسو شکل جوړوئ د هغے ته

أَمْ نَحْنُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٥٩﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ

او که مونږ شکل جوړونکی یو - مونږ مقرر کړے دے ستاسو په مینځ کښ

ٱلْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿٦٠﴾ عَلَىٰٓ

مرګ او نه یو مونږ عاجز کړے شوی ، په

اشاره کوی. د پیدائش سره مرګ. د فصلونو سره حُطام کیدل - د اوبو سره اُجاج کیدل. او د اور سره ئے د آخرت اور ته اشاره کول ذکر کړے دی - او په دے دلیلونو باندے دعوی د توحید متفرع ده بیا عظمت د قران ئے په شپږ حالاتو سره ذکر کړے دے چه په هغے کښ زجر هم دے بیا تخویف دے په ذکر د حال د نزع سره او عجز د مخلوق د واپس کولو د روح نه. بیا ذکر د درے اقسامو د خلقو دے په باره د مړو کښ او تفریع د دعوے د توحید ده په آخر کښ.

په ۵۷ کښ اول دلیل ذکر کوی سره د زجر نه. تُصَدِّقُونَ عام دے تصدیق د توحید او د بعث بعد الموت او د رسالت او قران ټولو ته شامل دے.

۵۸ ۵۹ دا تفصیل د خلق دے. تُمْنُونَ د امناء نه دے منی رحم کښ اچول په طریقه د جماع کولو سره او ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُۥٓ دا خطاب دے ټول مخلوق ته که انبیاء او اولیاء وی او که عام وی ټول د دے خلق نه عاجز دی.

تَخْلُقُونَهُۥٓ نه مراد هغه مختلف حالات جوړول او بدلول دی چه په سورة حج ۵ او سورة مؤمنون ۱۳ ۱۴ کښ ذکر دی.

۶۰ ۶۱ روستو د نعمت د خلق نه زوال ذکر کوی په ذکر د مرګ سره د پاره د دے چه په دے نعمت سره تکبر او نه کړی. قَدَّرْنَا دلیل د تقدیر دے بَيْنَكُمُ په دے کښ عبارت پټ دے یعنی (یدور بَيْنَكُمْ) ګرځی دا مرګ ستاسو په مینځ کښ. وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ. مسبوق هغه چا ته ویلے کیږی چه بل څوک تری نه مخکښ کیدے شی یعنی مغلوب او عاجز وی. او د دے متعلق محذوف دے یعنی (عَنْ تَقْدِيرِ الْمَوْتِ) یا مطلق دے. یا متعلق د دے دا لفظ دے چه عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَٰلَكُمْ. نو عَلَىٰٓ (یا تے په بل مخ)

أَنْ نُّبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ

دے خبرہ بانذے چہ بدل کړو مونږ شکلونه ستاسو او پیدا کړو تاسو لره په

مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ

هغه شکلونو کښی چه تاسو په ئے نه پیژنئ. او یقینًا پوهه ئے تاسو په پیدائش

الْأُوْلٰى فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾ أَفَرَءَيْتُمْ مَّا

مخکنی بانذے نو ولے نصیحت نه قبلوئے تاسو. آیا سوچ کړے دے تاسو په هغه

په معنیٰ دَ عن سره دے اوکه علیٰ په خپله معنیٰ شی او مسبوقین پورے متعلق شی نو دَ دے نه په مخکښ قادرون پټ مراد شی. أَمْثَالَكُمْ مراد دَ دینه صورتونه او شکلونه دی یعنی دَ انسانیت نه خلاف نور شکلونه به تاسو له درکړی یا دَ أَمْثَالَكُمْ نه مراد اولادونه دی یعنی چه تاسو مړه کړی او ستاسو اولاد ستاسو په بدله کښی راولی لکه چه دا نظام الهی جاری دے.

وَنُنْشِئَكُمْ فِيْ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ په اوله معنیٰ سره مراد دَ دے نه نور شکلونه (چه مسخ کړیشی) پیدا کول دی. او په دویمه معنیٰ سره په قیامت کښی شکلونه بدلول دی یعنی دَ چا مخونه سپین خائسته او دَ چا تک تور بد شکلونه جوړول یا مراد دا دے چه روستو دَ مرګ نه بعض انسانانو لره درندګان او خوری نو دَ هغوی په بدن کښی مخلوط او بدل شی او بعض انسانان خاورے شی او دَ هغه خاورو نه بوټی اوتے پیدا شی او بعض انسانان په معدنیاتو کښی خلط شی نو دَ هغوی نه هغه معدنیات جوړ شی نو دا امثال او اشکال مختلفه دی چه انسانانو ته دَ هغے علم نیشته او دینه اشاره وه په سورة اسراء ۵۰ کښی دا توجیه خطیب شربینی لیکلے ده.

۶۲ دَ خلق او دَ مرګ دَ ذکر نه روستو دَ دوباره ژوند اثبات په دلیل سره کوی چه هغه قیاس کول دی په اول ژوندی کولو بانذے او دا استدلال په قرآن کریم کښی ډیر ذکر شوے دے لکه سورة روم ۲۷ مریم ۶۷ یٰس ۷۷ القیامة ۳۶. النَّشْأَةَ په دمه پیدا کولو ته وائی نو اول ژوند هم په مختلفو اطوارو سره وو. فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ مراد دَ دینه دوباره ژوند یادول دی په طریقه دَ قیاس کولو سره په اول ژوند بانذے.

نَحۡرُثُوۡنَ ﴿۶۳﴾ ءَاَنۡتُمۡ تَزۡرَعُوۡنَهٗۤ اَمۡ نَحۡنُ

چه کرئ ئې تاسو . ایا تاسو زرغونه وئ هغه او که مونږ

الزّٰرِعُوۡنَ ﴿۶۴﴾ لَوۡ نَشَآءُ لَجَعَلۡنٰهُ حُطٰمًا

زرغونوونکی یو . که چرے اوغواړو مونږ ضرور اوګرځوؤ به دا کیا ذرے ذرے

فَظَلۡتُمۡ تَفَكَّهُوۡنَ ﴿۶۵﴾ اِنَّا لَمُغۡرَمُوۡنَ ﴿۶۶﴾

نو بیا به غمونه بښکاره کوئ . چه یقینًا مونږ تاوانیان شو .

۶۳ ۶۴ دا دویم دلیل دے چه پیدائش پسے دَ تربیت کولو ذکر دے .
نَحۡرُثُوۡنَ حرث ویلے کیږی زمکه شلول او دَ هغے اړول او تخم پکښې اچول دا خو انسانان کوی . دَ مَا نه مراد تخم دے . اَفَرَءَیۡتُمۡ مقصود په یکښې ترغیب دے فکراو سوچ کولو ته په تخم باندے او هغه فکر ئې ذکر کړے دے په دے قول سره ءَاَنۡتُمۡ تَزۡرَعُوۡنَهٗ زرع نه مراد تیغونه او فصل راویستل دی دَ تخم نه او دا په قدرت دَ هغے مخلوق کښې نیشته دے . او په دے سره دَ توحید اثبات دے چه تاسو ټول (انبیاء، اولیاء) دَ دے نه عاجزیئ نو معلومه شوه چه مخلوق دَ خالق سره شریک نشی کیدے او دارنګ په دے سره دَ قیامت اثبات دے چه الله تعالیٰ دَ تخم نه شین بوټی را اوباسی نو تاسو به هم دَ زمکے نه دوباره راژوندی کړی . او دَ دے ایت نه معلومه شوه چه دَ حرث نسبت انسانانو ته کیدیشی او دَ زرع نسبت انسانانو ته حقیقةً نشی کیدے دَ دے وجے نه حدیث مرفوع کښې ذکردی چه هیڅ څوک به دا سے نه وائی چه زَرَعۡتُ بلکه حَرَثۡتُ دِ وائی .
ابن کثیر او ابن جریر دا په سند سره نقل کړیدے او په سورة فتح ۲۹ کښې الزُّرَّاعَ انسانانو ته مجازًا ویلے شویدے مراد تربیت کُرات دی .
ابن کثیر ذکر کړیدی چه دَ دے نه روستو بَلۡ اَنۡتَ یَا رَبِّ ویل دَ بعض سلفو عمل دے او قرطبی دلته څه کلمات ذکر کړیدی چه دَ کرونده کولو نه روستو زمیندار هغه اُوائی نو الله تعالیٰ هغه فصل لره دَ هر آفت نه محفوظ اوساتی .
۶۵ ۶۶ دَ نعمت دَ ذکر کولو نه روستو دَ هغے زوال ذکر کوی دَ دے دَ پاره چه انسان په فصلونو او باغونو باندے تکبر او نه کړی (رپاتے په بل مخ)

بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۶۷﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ

بلکه موږ بې نصيبه يو . آيا تاسو سوچ کړے دے په هغه اوبو

الَّذِيْ تَشْرَبُوْنَ ﴿۶۸﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ

باندے چه تاسو يې څښئ آيا تاسو راکوزے کړے دي دا

مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿۶۹﴾

دَ سپينو وريځو نه او که موږ راکوځوونکی يو .

حُطَامًا دَ برابريدلو دَ بوټي او دَ لوکولو نه مخکښ چه اوچ شی او ذرے ذرے شی دیته حطام ویلے کیږی. فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ تفکه دَ اضداد و نه دے خوشحالی کول او غم کول دواړو ته ویلے کیږی دلته دویمه معنیٰ مراد ده او پښیمانتیا کول تعجب کول او بے فائدے خبرو کولو ته هم تفکه ویلے کیږی. اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ دا بیان دَ تفکه دے یا تقولون پټ دے دَ غرام نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ عذاب او هلاکت سره یا دَ غرامت نه دے په معنیٰ دَ تاوان او نقصان سره.
مَحْرُوْمُوْنَ یعنی زموږ نه هغه ذات روزی منع کړه چه دَ هغه سره مقابله نشی کیدے او دیته بدنصیبی ویلے کیږی او په بَلْ دَ ترقیٔ سره یې ذکر کړو اشاره ده چه غرامت صرف دَ تخم او دَ نور خرچ (چه په فصل باندے کړیو) بربادی وه او حرمان دا دے چه دَ تخم او دَ فصل دَ فائدو نه هم ورسره محرومه شو نو په یکښ دَ ما قبل نه ترقی ده.
۶۸تا۶۹ دا دریم دلیل دے دَ پاره دَ اثبات دَ توحید او دَ اثبات دَ بعث بعد الموت. او دویمه ماده دَ تربیت ذکر کوی چه اوبه دَ باران دی. ځکه اکثر خلق اسمانی اوبه څښی. الْمُزْنِ مطلق وریځ ته یا خاص سپینې وریځ ته ویلے کیږی ځکه چه باران اکثر دَ سپینو وریځو نه وریږی. دا ایت دلیل دے چه تمام مخلوق (انبیاء اولیاء وغیره) دَ باران ورولو قدرت نه لری نو افسوس دے دَ هغه جاهلانو په حال باندے چه هر کله سوکړه شی نو دوی بعض قبرونو ته ځی او په جاهلانه طریقو سره دَ قبرونو والا نه باران غواړی یا دَ هغه په برکت سره یې غواړی دا ټول شرک او دَ شرک طریقے دی.

لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾

که چرے اوغواړو مونږ او به گرځوو دا ترخې نو ولے شکر نه کوئ تاسو۔

ـــ په دے کښې تخویف دَ زوال دَ نعمت ذکرکوی دَ دے دَ پاره چه انسان غرور او تکبر او نه کړی۔

أُجَاجًا سخت مالګین چه مرے کښې انخلی او معده سیزی په شان دَاُور تو تنده نه سړوی او فصلونه په هغے سره سوزی۔

فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ دَ شکر مقصد دا چه دا نعمت (او به) په بندګئ دَ الله تعالیٰ کښې صرف کړے شی او صرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دا احسان اوګنړلے شی۔

او ابن کثیر مرفوع روایت نقل کړے دے چه نبی صلی الله علیه وسلم به اوبه اوڅښلے نو ورپسے به یې اُویل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی سَقَانَا عَذْبًا فُرَاتًا بِرَحْمَتِهٖ وَلَمْ يَجْعَلْهُ مِلْحًا أُجَاجًا بِذُنُوْبِنَا۔ نو دا په آیه باندے کلمات دَ شکر اداکول دی۔

فائده ۱: ـ دَ نعمت طعام په زوال کښې لام دَ تاکید داخل کړے دے لجعلناه حطامًا او په زوال دَ نعمت دَ اوبو کښې لام نه دے داخل کړے جعلناه اجاجا۔ مفسر قاسمی دَ ابن اثیر نه وجه نقل کړیده چه دَ اوبو خوند بدلیدل په عرف او عادت کښې ډیر اوآسان دی او دا رنګ مالګینے اوبه په دُنیا کښې دَ خوګو اوبو نه ډیرے دی نو په دے کښې دَ لام تاکید راوړلو ضرورت نیشته۔ او دَ طعام نه حطام جوړول کله کله وی په اسبابو غیر عادیو سره (طوفان کلئ وغیره) او دا رنګ هغه اثر دَ غضب دَ الله تعالیٰ وی نو دَ هغے په ذکر تاکید ته ضرورت دے دَ پاره دَ پوره تنکیر۔

فائده ۲: ـ دَ اول نعمت چه نَشْاَةِ اولی دے نه روستو فلولا تذکرون ذکر کړے دے او دَ اوبو دَ نعمت نه روستو فلولا تشکرون ذکر دے؟ وجه دا ده چه هلته کښې مقصد دَ دویاره ژوند قیاس کول دی په اول ژوند باندے او قیاس او عبرت ته تذکر ویلے کیږی۔ او دلته خو نعمت دَ خوراک اوڅښاک ذکر دے او دا بشکاره نعمتو نه دی او تذکر دَ نعمت شکر کول دی او دَ دے وجے نه په سنت کښې دَ خوراک اوڅښاک دواړو نه روستو الحمدلله ویل دَ پاره دَ شکر کولو ثابت او ضروری دی۔

أَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿٧١﴾ ءَأَنتُمْ

ایا تاسو سوچ کړیدے په هغه اور باندے چه بلوئے ئے تاسو . ایا تاسو

أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنشِـُٔونَ ﴿٧٢﴾

پیدا کړیده او نه د اور او که موږ پیدا کوونکي یو .

نَحْنُ جَعَلْنَاهَا تَذْكِرَةً وَمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿٧٣﴾

موږ گرځولے ده دا یاداشت (د اور د جهنم) او فائدے د پاره د صحرا والو .

سلے دا څلورم دلیل دے د اثبات د توحید او د تذکیر د قیامت د پاره او د تربیت مواد ئے دریمه ماده ده . تُورُونَ د بعض او نو د پاڼو او څانګو نه په مخلو سره اور راوځی لکه د بعض کتو په رګړولو سره اور پیدا کیږی او دا رنګ تیلے راښکل په دبی پورے د دے نه هم اور پیدا کیږی دے نو لو ته دا لفظ عام شامل دے .
سلے په دے کښې عجز د ټول مخلوق ذکر کوی چه هغوی د اور مواد نشی پیدا کولے نو ولے د الله تعالیٰ سره ئے شریک جوړ وئے . شَجَرَتَهَا د مرخ او عفار اونے چه عربو به د هغے د پاڼو او څانګو مخلو نه اور راویستلو یا هره ښنه او ته مراد ده ځکه چه عقل سره ثابت شویده چه په هره ښنه او ته کښې الله تعالیٰ د اور ماده پیدا کړیده یا د دینه مطلقه اونے مراد دی چه ښنے یا اوچ لرګی چه په اور کښې سوزی او اور پرے بلیږی . دا سے په سورة یٰس سنه ۸۰ کښې تیر شوی دی .
سلے په دے کښې دوه لوئے فائدے د اور ذکر کوی اول تَذْكِرَةً یعنی په دے سره اور د جهنم یادیږی نو د هغے نه پناه غوښتلے کیږی او ویره تری نه کید یشی . دا رنګ د اونو نه په اور راویستلو سره بعث بعد الموت هم معلومیږی یعنی چه الله تعالیٰ په دے اور پیدا کولو قادر دے نو انسانانو له هم دوباره پیدا کولے شی . او دا رنګ دا تذکره ده د پاره د توحید چه په دے کار باندے د الله تعالیٰ نه سیوا بل هیڅوک قدرت نه لری .
دویمه فائده : وَمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ د اور فائدے ، طعام پخول ، ځان ګرمول په یخنے کښې ، رڼا حاصلول ، او سپنے وغیره ویلے کول او د هغے نه څیزونه جوړول وغیره . لِّلْمُقْوِينَ د قواء نه ماخوذ دے خالی صحراء ته ویلے کیږی یعنی هغه خلق چه په بیابانونو کښې او سی هلته دیره وی یا مسافروی دوی د اور نه

ع ۲ ۱۵

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ فَلَآ أُقْسِمُ

تو پاکی وایه د نوم د رب ستا چه لوئے شان والا دے. دا سے نه ده زه قسم کووم

بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ

په ځایونو د ستورو باندے ، او یقینًا دا قسم که چرے تاسو پوهیږے

فائده اغستلو ته ډیر محتاج وی - او مقوین فائده اغستونکو ته هم ویلے کیږی. او لوگے والا ته هم ویلے کیږی - او هغه چا ته ویلے کیږی چه توښه ورسره ختم شی. او د مضطرب نه نقل دے چه فقیر او غنی دواړو ته ویلے کیږی نو دا لفظ دے ټولو معنو ته شامل او عام دے.

فائده :- په دے دلیلونو کښ ښائسته ترتیب دے اول ئے پیدائش ذکر کړو سره د یادداشت د مرگ او د قیامت نه. بیا ئے د تربیت درے مواد ذکر کړل ځکه چه تربیت په خوراک سره دے نو فصلو ته پیدا کول ئے ذکر کړل بیا خوراک بغیر د اوبو نه نشی کیدے ځکه فصل اوبو ته محتاج دے، بیا اوړه اخل اوبو ته محتاج دی بیا پوخ ئے خوړلو کښ او بو ښیلو ته ضرورت دے او هر کله چه ډوډ ئے او د خوراک ښناك ښیزونه بغیر د اور نه نشی تیاریدلے نو اور ئے ذکر کړو نو معلومه شوه چه ټول انسانان د الله تعالیٰ د لنگر نه خوراک کوی هغه ته په ټول تربیت کښ محتاج دی د تربیت څیزونه هغه پیدا کړیدی نو بیا ولے مشرکانو نور معبودان اولیاء پیران وغیرہ نیولے دی چه د الله تعالیٰ سره ئے شریک کړے دی.

۷۴ دا تفریع ده د تیرشوی دلیلونو په مسئله د توحید سره. بِاسْمِ رَبِّكَ هر اسم د الله تعالیٰ د خاص نومونو د هغه نه پاک دے هر عیب او نقصان او د شریک نه نو دا رد دے په مشرکین فی الاسماء والصفات باندے. الْعَظِيمِ دا صفت د اسم او د رب دواړو کیدے شی رب عظیم شان والا او نومونه ئے هم لوئے شان والا دی.

۷۵ هر کله چه عقلی دلیلونه د اثبات د توحید او د قیامت د پاره ذکر شو اوس ترغیب ورکوی قران ته چه دا وحی دلیل دے. او اشاره ده چه تربیت بدنیه سره تربیت روحانیه په قران کریم سره ضروری دے. فَلَآ أُقْسِمُ په لفظ د لا کښ خلور اقوال دی اول دا چه زیاتی دے بنا په ریاتے په بل مخ)

عَظِيْمٌ ﴿۷۶﴾ إِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۷﴾ فِيْ كِتٰبٍ

لوئے دے	يقيناً دا قرآن دے عزت مند	په كتاب

عادت دَ عربو بانده ے نو معنیٰ په اثبات دَ قسم سره ۔ دویم قول دا چه (لا) فیه
دے نفی دَ قسم مراد ده لیکن دَ دے قول ضعف ښکاره دے په سبب دَ
دے چه روستو ئے وَ اِنَّهٗ لَقَسَمٌ ذکر کړے دے یعنی دا قسم دے تو نفی دَ
دَ قسم خو نشی کیدلے ۔ دریم قول دا دے چه (لا) فیه دے او دَ مخکښ نه انکار
دَ منکرینو معلومیږی (فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ، فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ، فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ) نو
معنیٰ دا چه دا درے واړه کارونه (تصدیق نه کول ۔ تذکر نه اخستل ۔ شکر نه
کول) نه دی مناسب بلکه أُقْسِمُ ۔ دا قول ابو حیان دَ سعید بن جبیر نه نقل کړے
دے او دَ دے توثیق ئے کړے دے ۔ څلورم قول (لا) په اصل کښ (لام) دَ تاکید دے
او دَ زور دَ اشباع نه الف پیدا شو معنیٰ دا چه خامخواه قسم کووُم ۔ غوره قول پدے
ټولو کښ زمونږ په نیز دریم قول دے او داسے په سورۃ قیامت سـ۱ سـ۲ سورۃ
تکویر سـ۱۵ سورۃ بلد سـ۱ سورۃ الحاقه سـ۳۸ سورۃ المعارج سـ۴۰ سورۃ انشقاق سـ۱۶
کښ راغلی دے ۔ بِمَوَاقِعِ النُّجُوْمِ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه ابن کثیر روایت
کړے دے چه مراد دَ دے نه نجوم دَ قرآن دی یعنی نجوم جمع دَ نجم ده قِسط
او حصّے ته ویلے کیږی او قرآن لګ لګ په جِصو جِصو سره نازل کړے شویدے
نو مراد دَ مواقع نه آیاتونه او سورتونه دی ۔ او دَ مجاهد نه نقل دے چه مراد دَ
دے نه نجوم (ستوری) دَ آسمان دی او دَ مواقع نه مراد منازل دَ ښکاره کیدلو دَ
هغے دی ۔ یا ځایونه دَ غائب کیدلو دَ هغے دی یا غورځیدل دَ هغے په ورځ دَ قیامت
راتللو دی ۔

سـ۷۶ دا جمله معترضه ده او په مینځ دَ هغے کښ بله جمله معترضه ده ۔ یعنی دَ
قسم او دا جواب قسم چه روستو آیت کښ دے دا ټوله جمله معترضه ده او دَ دے
قسم دَ عظمت دَ پاره ئے ذکر کړے ده او دَ موصوف (القسم) او صفت (عظیم)
په مینځ کښ لو تعلمون بله جمله معترضه شرطیه ده او جزاء ئے حذف ده
(لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِظَمَتَهٗ لَعَظَّمْتُمُ الْمُقْسَمَ عَلَيْهِ) یعنی که چرے تاسو دَ دے په عظمت
پانده ے علم لرلے نو دَ دے مقسم علیه (چه کرامت دَ قرآن دے) تعظیم به مو کولے
سـ۷۷ سـ۷۸ دا جواب قسم دے او مناسبت دَ قسم او جواب دَ هغے په اوله توجیه سره

مَّكْنُونٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهُ إِلَّا الْمُطَهَّرُونَ ﴿٧٩﴾

محفوظ ساتلے شوے کښې دے، لاس نه وروړی دیته مګر پاکان خلق

دا دے چه دَ قرآن کریم آیاتونه او سورتونه چه لګ لګ نازل شویدی ی شهادت کوی په کرامت دَ قرآن باندے او په دویمه توجیه باندے مناسبت دا دے چه ستوری دَ اسمان ښکاره شی او بیا غائب شی نو دا رنګ تیر شوی کتابونه الٰهیه او انبیاء علیهم السّلام چه دَ ستورو پشان رنړا کوونکی وو دَ ښکاره کیدلو نه روستو غائب شول او قرآن کریم (چه نمر دَ رنړا دے) راښکاره شو۔ او قسم دَ پاره دَ شهادت دے لکه چه تحقیق دَ هٰفی په ابتدا دَ سورة یٰس کښې تیر شویدے۔
کَرِيْمٌ کرامت دَ قرآن په ډیر وجوهو سره دے۔ کلام دَ الله تعالیٰ دے بے واسطه دَ جبریل نازل کړے شوے دے۔ سحر او کهانت او افتراء نه دے۔ مخلوق نه دے۔ دَ ډیرو فائدو او علومو نه ډک دے۔ معجز دے۔ مشتمل دے په کریم اخلاقو او احکامو باندے۔ لوستونکے دَ دے مکرم او عزت مند دے په نیز دَ الله تعالیٰ۔
فِيْ كِتَابٍ مَّكْنُوْنٍ مراد ترینه لوح محفوظ دے لکه په سورة بروج ۲۲ کښې دی یا مراد دَ دے نه صحیفے دَ ملائکو دی او کتاب جنس. په معنٰی دَ جمع سره دے لکه په سورة عبس ۱۳ کښې یا مراد دَ دے دا مصحفونه دی چه زمونږ په لاسونو کښې دی۔
۷۹ په دے کښې ډیر احتمالات دی۔ مَس حقیقی او مس مجازی (پوهه) هٗ ضمیر راجع دے قرآن ته یا لوح محفوظ ته۔ الْمُطَهَّرُوْنَ طهارت ظاهریه مراد ده یا باطنیه، تفصیل ئے دا دے۔ اول احتمال دا دے چه دا جمله صفت دَ قرآن دے ځکه چه بحث په باره دَ قرآن کښې دے۔ او دَ مس نه مراد لاس لګول دی او مطهرون نه مراد پاک بدن والا چه جنب او بے اودسه نه وی او دا جمله خبریه په معنٰی دَ انشاء ده نو معنٰی دا ده چه لاس دِ نه لګوی دَ قرآن سره بے اودسه او پلیت شخص۔ دویم احتمال دا دے چه مس په معنٰی مجازی سره دے او طهارت نه باطنی پاکوالے مراد دے یعنی مؤحد متقی نو معنٰی دا شوه چه نه پوهیږی په قرآن باندے مګر پاکے عقیدے او عمل والا یا نه پوهیږی په خوند دَ قرآن باندے مګر مؤمن مؤحد۔ (رپاتے په بل مخ)

یعنی مشرکان دَ قران په حقیقت باندے علم نه لری لکه دیته اشاره ده په سورة اعراف ۱۸۵ کښې۔
دریم احتمال دا دے چه دا صفت دَ لوح محفوظ دے او مس حقیقی مراد دے او مطهرون نه مراد ملائک دی نو معنیٰ دا ده چه لاس نشی لګولے دَ لوح محفوظ سره مګر صرف ملائک۔
څلورم احتمال دا دے چه دَ مس نه معنیٰ مجازی مراد ده معنیٰ دا چه علم نه لری په لوح محفوظ باندے مګر ملائک۔ په دے دواړو احتمالونو کښې رد په هغه متصوفو باندے دے چه هغوی وائی چه اولیاء هم په لوح محفوظ باندے عالمان دی او دوی هغې ته رسیږی او دَ هغې نه علم حاصلوی دا باطله عقیده ده۔
پنځم احتمال چه کتاب مکنون نه صحف دَ ملائکو مراد دی او مس ظاهری دے نو معنیٰ دا ده چه لاس نه لګوی دَ دغه پاکو صحیفو سره (چه قران پکښې ملائکو لیکلے دے) مګر ملائک لیکونکی دَ قران لکه چه په سورة عبس ۱۵ ۱۶ کښې دی۔
فائده :- دَ قران کریم دَ لوستلو دَ پاره اودس کول بالاتفاق ضروری نه دی او مستحب دی او په حالت دَ حیض او جنابت کښې لوستلو کښې اختلاف دَ اهل علمو دے او دَ قران دَ مسه کولو دَ پاره اودس شرط دے او که نه ؟
په دیکښې دَ اهل علمو اختلاف دے قرطبی ویلے دی چه اکثر اهل علم په منع باندے قائل دی او دا مذهب دَ علی او ابن مسعود او سعد بن وقاص رضی الله عنهم او سعید بن زید او عطاء او زهری او نخعی حکم، حماد، مالک شافعی او قول دَ امام ابوحنیفه رحمهم الله دے او دوی دلیل نیولے دے په حدیث دَ مسلم چه زمکے دَ دشمن ته قران مه اوړئ او په حدیث موطا امام مالک دَ ابن حزم کښې دی چه قران به نه مسح کوی مګر پاک شخص او دا حدیث ابوداؤد هم په مراسیل کښې ذکر کړے دے۔ او په حدیث دَ دارقطنی په واقعه دَ اسلام دَ عمر رضی الله عنه کښې هم دی چه خور ورته ویلے وو چه ته پلیت یئ قران ته لاس نشے لګولے۔
لیکن ابن کثیر او ابن حجر په تلخیص الحبیر کښې ویلے دی چه دَ دے په سند ونو کښې نظر او مقال دے سیوا دَ حدیث دَ مسلم نه او هغه هم په مدعا باندے نیکاره دلیل نه دے ځکه چه مراد دَ هغې حدیث دا دے

تَنۡزِیۡلٌ مِّنۡ رَّبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ﴿۸۰﴾ اَفَبِهٰذَا

نازل کړے شوے دے دَ طرف دَ رب العالمین نه . آیا په دا سے

الۡحَدِیۡثِ اَنۡتُمۡ مُّدۡهِنُوۡنَ ﴿۸۱﴾ وَتَجۡعَلُوۡنَ

خبرو تاسو سُستي کوئے او گرځوئے

چه قرآن زمکے دَ دشمن ته مه ورکئے دَپاره دَ دے چه بے عزتی یئے او نه کړی. نو حاصل دا دے چه دا دلیلونه په دے مسئله کښ قطعی نه دی لیکن احتیاط دا دے چه دَ قرآن دَ مسح کولو دَ پاره دِ دَ اودس کولو اهتمام اوکړے شی.

سٹ دا صفت دَ لقرآن دَپاره دے یا خبر دے دَ مبتدا محذوف (هو) .

تَنۡزِیۡلٌ په معنیٰ دَ منزل سره دے. په رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ کښ اشاره ده چه لکه تربیت دَ بدن الله تعالیٰ کوی په غِذا سره چه مخکښ ذکر شو نو دارنگ تربیت دَ روح په قرآن سره کوی او دا رد دے په هغه چا باندے چه قرآن ته سحر او کهانت او افتراء وائی.

سٹ دا آیت زجر دے منکرینو ته روستو دَ بیان دَ صداقت دَ قرآن نه.

مُّدۡهِنُوۡنَ ادهان او مداهنة نرم والی او تغافل او میلان کول تجاوز ته وئیلے کیږی. قرطبی وئیلے دی مداهن هغه څوک دے چه ظاهر یئے دَ باطن نه خلاف وی او دَ مؤرّج نه یئے نقل کړے دے چه مداهن منافق او کافر دے چه خپل جانب نرم کړی دَ دے دَپاره چه خپل کفر پټ ساتی. نو حاصل دا دے چه مداهن او مداهن په مسلمانانو کښ هغه څوک دے چه دَ باطل پرستو سره موافقت کوی او حق ورته نه ښکاره کوی او په کافرانو کښ هغه دے چه دَ مسلمانانو نه خپل کفر پټوی په دے وجه مداهنون تکذیب کوونکو، اعراض کوونکو، دَ کافرانو سره موافقت کوونکو، او په باره دَ حق منلو کښ بهانے کوونکو ټولو ته شامل دے. ابو بکر یقاعی وئیلے دی چه " په دے آیت کښ رد دے په هغه چا باندے چه دَ قرآن په باره کښ دَ چا نه نامناسبے خبرے واؤری (نو خفه کول یا تحریف معنوی کول وغیره) او بیا هم دَ هغه سره ښکاره دُشمنی نه کوی او نرمی ورسره کوی. او اهل الحاد لکه ابن عربی صاحب دَ فصوص الحکم او ابن الفارض صاحب دَ تائیه او ل هغه (پاتے په بل مخ)

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ

برخه ستاسو دا خبره چه دروغژن ئے گنړئے . نو ولے نه ده چه کوم وخت اورسی

الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾

روح مرے ته او تاسو په دغه وخت کښ گورئے

کسان دی چه دا آیت هغوی ته شامل دے ځکه چه هغوی دَ قرآن په باره کښ په دا سے طریقه کلام کړے چه دین لره دَ ویخ نه اوباسی او څوک چه دَ هغوی دَ پاره تاویلونه کوی دَ هغوی دَ طرف نه مدافعت کوی نو هغه دَ اجماع دَ امت نه خلاف کوونکے دے دَ دوی نه په گمراهئ کښ زیات دے" (اِنْتَهٰی). نو معلومه شوه چه دَ قرآن کریم دَ مخالفت کوونکو سره هیڅ قسم نرمی پکار نه ده.
۸۲ دا هم زجر دے . رِزْقَكُمْ هرکله چه تکذیب دَ حق او دَ قرآن خوراک نه دے دَ دے وجے نه په دے آیت کښ دَ مفسرینو ډیر توجیهات دی . اوله توجیه دا چه رزق په معنیٰ دَ شکر دے ځکه چه شکر سبب دَ رزق دے نو ذکر دَ مسبب او مراد ترینه سبب دے . دویمه دا چه مضاف حذف دے شکر رزقکم او دَ رزق نه مراد عام رزق دے او خوراک دے یا دَ رزق نه مراد باران دے یعنی هرکله چه باران اوشی نو آیا ستاسو شکریه کول دا دی چه دَ هغے نسبت ستورو ته کوئے لکه چه جاهلیت والو به ویل مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا او قرطبی ویلی دی که دا نسبت په دے عقیده سره وی چه دا ستورے (نوء) پیداکوونکے دَ وریځ او دَ باران دے نو دا صریح کفر دے او که دا عقیده وی چه دَ دے نوء (ستوری) په وخت کښ الله تعالیٰ باران راوروی نو په دیکښ هم کفر دے په نعمت دَ الله تعالیٰ باندے او کلمه دَ جهل ده او موهمه کلمه ده . خطیب شربینی تفصیل کړیدے . دریمه توجیه دا چه رزق په معنیٰ دَ برخے سره دے نو معنیٰ دا چه تاسو خپله حصه دَ قرآن نه دا گرځولے ده چه تکذیب کوئے .
څلورمه توجیه دا چه رزق په خپله معنیٰ سره دے او معنیٰ دا چه تاسو په تکذیب باندے همیش والے کوئے گویا که دا ستاسو خوراک او غذا ده .
۸۳ ۸۴ ۸۵ روستو دَ زجر نه ذکر کوی تخویف سره دَ دلیل قسم زجر نه او دا تخویف دے په مرگ سره . فَلَوْلَآ دا لفظ دَ پاره دَ زورنے استعمالیږی دلته

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا

او مونږ خه نږدے یو دہ ته ستاسو نه او لیکن نه

تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ

وینئ تاسو . نو ولے نه دہ که چرے تاسو نه یئ

پہ یکښ شرطی معنیٰ نیشته دے. اِذَا بَلَغَتِ اذا شرطیه دے جزا یٔ محذوف دہ (فردد تم الروح او امسکتم) یعنی هرکله چه روح غټے مرئ ته اورسیږی نو تاسو دا روح ولے نه حصاروئ یا ولے یٔ نه واپس کوئ.

اَلْحُلْقُوْمَ حلق عام دے ټولے مرئ ته ویلے کیږی او حلقوم خاص دے په هغے پورے چه روح پکښ ځی راځی او کله ډیوبل په معنیٰ سره هم استعمالیږی او دا سے حالت په سورة القیامة ۲۶ کښ ذکر دے.

وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ خطاب دے حاضرینو د مړی ته چه اکثر د هغه رشته داروی. تَنْظُرُوْنَ مړی ته او د هغه حالت د نزع ته ګورئ یا دا په معنیٰ د انتظار د مرګ دے.

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مراد د دے وجود د ملائکة الموت دے چه په هغه وخت کښ حاضروی یا مراد د دے نه قرب د الله تعالیٰ دے په اعتبار د علم او قدرت سره. وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ مفعول پټ دے یعنی ملائکو لره نه وینئ. نظر په محسوساتو کښ او بصر په غائب څیزونو معقولاتو کښ اکثر استعمالیږی د دے وجے نه اول یٔ نظر ثابت کړو په تنظرون سره او بیا یٔ بصر نفی کړو په لا تبصرون سره. تر دے ځائے پورے څلور حالات ذکر شول.

۸۶ ۸۷ . فَلَوْلَآ په اصل کښ داخل دے په تَرْجِعُوْنَهَا باندے. فراء ویلی دی چه دویم فَلَوْلَآ د اول د پاره اعاده دہ او جواب د دواړو یو دے او بعضو علماؤ ویلی دی چه اول فلولا د پاره جواب پټ دے لکه چه مخکښ مونږ ذکر کړے دے. او فلولا ترجعونها جزاء دہ او په دے پورے دوہ شرطونه متعلق دی (اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ اَوْ اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ). مَدِيْنِيْنَ ماخوذ دے د دَانَ يَدِيْنُ نه په معنیٰ د جزاء او حساب او په معنیٰ د ملکیت هم راځی، نو معنیٰ د دے جزاء ورکړے شوے، حساب کړے شوے. (پاتے په بل مخ)

مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرْجِعُونَهَا إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٨٧﴾

کمزوری . چه واپس راوګرځوئ دا روح که چرې تاسو رشتني يئ .

فَأَمَّا إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوْحٌ

نو که چرې دی دا روح والا د نزدې خلقو نه، نو دهٔ لره راحت دې

وَرَيْحَانٌ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ﴿٨٩﴾ وَأَمَّا إِن كَانَ

او خوږ رزق دے او جنتونه دَ نعمتونو دی. او که چرې دے وی

او مملوک او کمزوری ـ، حاصل دَ معنیٰ دا دے که چرې تاسو رشتیا کمزوری نه يئ او حساب درسره نشي کیدلے نو بیا خو دغه روح په بدن کښې واپس راوګرځوئ لیکن نشئ راګرځولے نو معلومه شوه چه تاسو په تکذیب دَ قرآن او په انکار دَ توحید او قیامت کښې دروغژن يئ .

او دا ایت ښکاره دلیل دے چه الله تعالیٰ دَ چا نیته پوره کړی او روح يئ بدن نه اوباسی نو هیڅ مخلوق (ملک، نبی، ولی او ډاکټر وغیره) هغه روح بدن ته نشي واپس کولے هاں دَ معجزے په طور سره چه عیسیٰ علیه السلام واپس کړے دے هغه خو دَ الله تعالیٰ إذن او اختیار وو دَ عیسیٰ علیه السلام په هغې کښې هیڅ قدرت او اختیار نه وو .

۸۸ ـ ۸۹ دا تقسیم دَ هغه خلقو دے درے قسمونو ته چه په هغوی باندے ځنکدن راغے او مره شول ـ لکه چه دَ سورت په ابتداء کښې يئ دا سے ذکر کړے وو لیکن فرق دا دے چه هغه حالات په آخرت کښې په جنت یا په جهنم کښې دواړو دلته حالات دَ وخت دَ ځنکدن دی لکه چه قرطبی دَ ربیع بن خیثم او دَ ابو الجوزاء او دَ ابو العالیه نه نقل کړیدی ـ المُقَرَّبِينَ دَ دے نه مراد السابقون دی کامل ایمان والا مؤمنان ـ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ (رله) لفظ پټ دے ـ ابن کثیر ویلے دی چه دَ مرګ په وخت کښې ملائک دوی ته دا بشارت ورکوی او دَ ابو العالیه نه روایت دے چه ملائک به دوی ته په ځنکدن کښې دوه خانګې پیش کوی یو روح او بله ریحان ـ رَوْحٌ په معنیٰ دَ راحت او خوشحالۍ ، او رحمت، دیدن دَ الله تعالیٰ دے او دا ټولے معانی اراده کیدے شی ـ رَيْحَانٌ خائسته رزق ، ګل دَ کشمالو، او دَ لذت په خیز و دَ الله تعالیٰ سره دے ټولو معانیو ته شامل دے ـ

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۰﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ

دَ ښي لاس والو نه تو (د ښيلي کيږي) سلام دے په تا باندے

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿۹۱﴾ وَ اَمَّا اِنْ كَانَ

نه دَ ښي لاس والو نه يئے . او که چرے وي هغه

مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿۹۲﴾ فَنُزُلٌ

دَ تکذيب کوونکو گمراهو نه نو دغه لره ميلمستيا ده

مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿۹۳﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿۹۴﴾ اِنَّ

دَ خوټيدلو اوبو نه او سوځيدل دي په جهنم کښې . يقيناً

ښه ۹۱ دا دويم قسم دے يعني عام مؤمنان ـ فَسَلٰمٌ لَّكَ يعني ملائک به ورته سلام دَ خپل طرف يا دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه پيش کوي او ورته به وائي چه اَنْتَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ . يا معنىٰ دا چه په تا باندے سلام دَ طرف دَ اصحاب اليمين دے چه ته به دَ هغوي سره په برزخ کښې او بيا جنت کښې ملگرے کيږے . او امام بخاري معنىٰ ذکر کړے ده چه مسلَّم (منلے شوے) ده ستا دَ پاره چه ته دَ اصحاب اليمين نه يئے . او قرطبي ليکلي دي چه دا سلام به په درے وختونو کښې وي په وخت دَ قبض دَ روح کښې دويم په وخت دَ راتللو دَ منکر نکير کښې او دريم په وخت دَ بعث بعد الموت کښې .

ښه ۹۲ ښه ۹۳ په دے کښې دريم قسم ذکر کوي چه مخکښې يئے هغوي ته اصحاب المشئمه او اصحاب الشمال ويلي وو ليکن دلته يئے هغه صفت ذکر نه کړو ځکه چه په وخت دَ نزع او دَ قبر کښې دوي اصحاب الشمال نه نه دي يعني عملنامه په شمال کښې ورکول يا جهنم ته بوتلل خو په ورځ دَ قيامت کښې دي . او هر کله چه تکذيب سبب دَ ضلال دے دَ دے وجے نه مکذبين يئے مقدم کړل په ضالين باندے .

فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ دلته هم (لهم) پټ دے نُزُلٌ هغه خوراک ښاک دے چه دَ ميلمه دَ پاره تيار کړے شوي وي او دلته استعمال په طريقه دَ تهکم سره دے . تَصْلِيَةُ داخليدل دَ پاره دَ سوځولو (يا ـــ په بل مخ)

هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ

دا پوره يقيني خبرے دي . نو پاکي وايه دَ نوم

رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٩٦﴾

دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے .

او دا اضافت دے مفعول ته .

فائده :- قاسمی دَ اکليل نه نقل کړيدی چه دا آيا تونه دلالت کوی چه ارواح چه دَ بدنونه جدا شی نو يا به په خوشحالو کښ وی او يا په عذاب کښ وی او ارواح دَ مؤمنانو په جنت کښ وی او ارواح دَ کافرانو په جهنم کښ دی .

۹۵ :- دا تائيد دَ ماقبل دے او خاص تنبيه ده هٰذَا اشاره ده ما قبل ټول مضمون دَ دے سورت ته يعنی قيامت واقع کيدل او په هغے کښ دَ زمکو او غرونو مختلف حالات او آخرت کښ دَ درے ډلو حالات او دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه خلورلوئے انعامات او بالخصوص نعمت دَ قرآن کريم او حالت دَ مرګ او په نزع او قبر کښ تنعيم او عذاب دے ټولو ته اشاره ده په هٰذَا سره .

لَحَقُّ الْيَقِيْنِ دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته يا په عکس سره دے يا اضافت دَ عام دے خاص ته . يا اضافت دَ شیٔ دے خپل نفس ته يعنی حق او يقين يو خيز دے . يا اليقين صفت دے دَ موصوف محذوف يعنی لحق الخبر اليقين او دا سے په سورة الحاقه ۵۱ کښ دَ ټول قرآن په باره کښ هم ذکر دے .

۹۶ دا سے په ۷۴ کښ هم تير شو وجه دَ تکرار دا ده اولاً چه دَ عقلی دليلونو نه روستو دا امر وو يعنی عقل دلالت کوی په تسبيح دَ الله تعالیٰ باندے . او ثانياً دَ قرآن دَ صداقت نه روستو او دَ قرآن سره متعلق دَ درے ډلو دَ حالاتو دَ بيا نه پس . يعنی قرآن هم دليل دے په تسبيح دَ الله تعالیٰ باندے .

حديث دَ ابو داؤد کښ راغلے دی چه دا آيت نازل شو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمائيل چه په دے باندے په رکوع کښ عمل اوکړئ . يعنی په رکوع کښ سبحان ربی العظيم وائی .

بِاسْمِ رَبِّكَ بآء زیاتی دَ پاره دَ تاکید ده یا معنیٰ دا چه یِذِکْرِ اِسْمِ ربك یعنی پاکی وایه په یادولو دَ نوم دَ رب ستا۔

فائده:- په دے کښ بآ داخل کړیده او په سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَىٰ کښ بآء نه ده ذکر کړے وجه داچه عظیم صفت دَ ذات او دَ اسم دواړو دَ پاره استعمالیږی نو اشاره ده چه دَ تسبیح دَ ذات سره ئے تسبیح دَ نومونو او دَ صفتونو دَ الله تعالیٰ ملګرے کړه او اعلیٰ صرف صفت ذات دَ پاره استعمالیږی نو هلته کښ مقصود تسبیح دَ ذات ده فقط بغیر دَ ملګرے کولو دَ تسبیح دَ نومونو او صفتونو نه او بآ دلالت کوی په مصاحبت (ملګرتیا) باندے۔ والله اعلم بحکم کتابه۔

(الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة واقعه په توفیق دَ الله تعالیٰ سره)

سُورَةُ الْحَدِيْدِ ۵۷ مَدَنِيَّةٌ ۹۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعَاتُهَا ۴

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج

پاک وائی الله تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ او زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الحدید

دَدے سورت نه تر سورۃ ملک پورے مدنی مضامین دی چه هغه جهاد انفاق فی سبیل الله او زجرونه په منافقت کوؤنکو او نور اصلاحی اموردی.

ربط دَدے سورۃ دَما قبل سره په ډیرو وجوهو سره دے۔ اوله وجه دا ده چه مخکښ سورت کښ مسئله دَ توحید دوه کرته ذکر کړه نو پس دے سورت کښ ترغیب دے خرچ کولو دَ مالونو او استعمال دَ او سپنے دَ پاره دَ اشاعت دَ دے مسئلے۔

دویمه وجه دا ده چه تیر شوی سورت کښ امر په تسبیح سره او شو نو دَ دے سورت په اول کښ تسبیح دَ مخلوقاتو ذکر کوی گویا که دا علت دے دَ پاره دَ امر بالتسبیح۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ امر وؤ په تسبیح دَ اسم دَ رب سره او اسم خواسم جنس دے ډیرو اسمونو او صفتونو ته شامل دے نو دَ دے سورت په ابتداء کښ دَ الله تعالیٰ ډیر نومونه او صفتونه ذکر کړل۔

دعویٰ دَ سورت۔ ترغیب انفاق فی سبیل الله ته په پنځه طریقو سره دَ ترغیب دَجهاد او قتال ته دَ پاره دَ توحید، هغه توحید چه ثابت کړے دے په ذکر دَ اتلس اسماؤ حسنیٰ سره او په صفاتو سره۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت دوه بابونو ته منقسم دے اول باب تر ۲۵ پورے دے په دیکښ اول اثبات دَ توحید دے په ذکر دَ دو ویشت اسماء او صفات الٰهیه سره او بیا ترغیب دے انفاق فی سبیل الله تعالیٰ ته په پنځه طریقو سره په ۷ کښ او ۸ ۹ ۱۰ په دے پورے متعلق دی بیا په ۱۰ کښ۔ بیا په ۱۱ کښ او تر ۱۹ پورے په دے پورے متعلق دی بیا په ۲۰ کښ

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ① لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

او خاص هغه زورآور حکمتونو والا دے۔ خاص هغه لره بادشاهي دَ آسمانونو

وَالْاَرْضِ ۚ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

او دَ زمکے ده ژوندی کول کوی او مړه کول کوی او هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ② هُوَ الْاَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ

څیز باندے قدرت لرونکے دے۔ هغه اول دے او روستو دے او ښکاره

او ۳ دَ دے سره متعلق دے بیا په ۲۲ کښ او ۲۳ ۲۴ دَ دے سره تعلق لری.

تفسیر ۱ په دے کښ دعویٰ دَ توحید ذکر ده په سَبَّحَ سره او الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ دلیلونه دَ هغے دی. تسبیح نه مراد قولی تسبیح ده لکه چه دلالت کوی په دے باندے سورۃ اسراء ۴۴ او تسبیح حالی ته هم شامل ده. او معنیٰ دَ تسبیح دَ شریك او ولد او ذکفر او عجز او احتیاج او مثل و مشابه او دَ ټولو نقصانونو نه پاکوالے. او الْعَزِيزُ کښ اشاره ده چه ټول مخلوق دَ الله تعالیٰ په مقابله کښ عاجز او مغلوب دے دَ دے وجے نه دَ الله تعالیٰ تسبیح وائی خوک طوعًا او خوک کرهًا نو دا دلیل دے دَ تسبیح قولی دَ پاره۔

الْحَكِيمُ اشاره ده چه دا ټول عالم ئے په خاص ترتیب سره پیدا کړے دے دا خائسته ترتیب دلالت کوی په تسبیح باندے نو دا دلیل شو دَ تسبیح حالی۔

۲ دا دویم دلیل دے لَهُ دا دلالت کوی په تخصیص باندے۔

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ مراد دَ ملك نه دَ هغه حکم چلیدل دی په ټولو موجوداتو کښ طوعًا او کرهًا۔ او دا حکم چلیدل په آسمانونو او زمکو کښ یو شان دی دَ دے وجے نه وَالْاَرْضِ سره ئے ما ذکر نه کړو۔

يُحْيٖ وَيُمِيْتُ دا دَ حکم چلیدلو دَ پاره یو مثال دے ځکه دا تصرف دَ الله تعالیٰ نه سیوا هیڅوک نشی کولے۔

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ دا مستقل دلیل دے یعنی بادشاهی ئے سره دَ کامل قدرت نه ده۔

وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣﴾

او پټ دے او هغه په هر څيز باندے پوره علم لري۔

هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ

خاص هغه داسے ذات دے چه پیدا کړي دي اسمانونه او زمکه

فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۚ

په شپږ ورځو کښ بیا برابر شو هغه په عرش باندے

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ

پوهه دے په هغه څه چه ننوځي په زمکه کښ او هغه چه راوځي

مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ

د زمکے نه او هغه چه خکته راځي د اسمان نه او هغه چه بره ورخيژي

۳۔ دا بل مستقل دلیل دے دَدے وجے نه ئے حرف عاطف نه دے راوړے او په مینځ دَدے صفتونو کښ حرف عطف ذکر کړے دے اشاره ده جمع دَ دے صفتونو ته په الله تعالیٰ کښ۔

دَ دے ایت تفسیر په حدیث صحیح دَ مسلم وغیره کښ ذکر شوید دے ویلے دی، " الْأَوَّلُ، فلیس قبلك شیءٌ یعنی دَ ټولو موجوداتو نه نه مخکښ ئے په وجود کښ او ټول عالم لره ئے وجود ورکوئکے دے وَالْآخِرُ، فلیس بعدك شیءٍ یعنی هغه نه وجود دَ هر څیز منتهي کیږي او باقي دے روستو دَ فنا دَ هر څیز نه۔ وَالظَّاهِرُ فلیس فوقك شیءٌ یعنی اوچت دے دَ هر څیز نه دَ هغه نه بره هیڅ څیز نیشته او ښکاره دے وجود دَ هغه په دلیلونو یقینیو سره۔

وَالْبَاطِنُ، فلیس دونك شیءٌ یعنی په اعتبار دَ ذات او ماهیت سره دَ هغه نه پټ نیشته او عالِم دے په باطن دَ هر څیز باندے"۔

او ابن جریر ویلے دی چه مراد دا دے چه هر څیز ته بشهٔ نژدے دے یا دا چه دَ زمکو دَلاندے هم دَ هغه قدرت او علم دے لکه په حدیث دَ ترمذی کښ دی اګرچه منقطع حدیث دے چه په هغے کښ لهبط علی الله راغلے دے۔

فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ ۚ وَاللَّهُ

هغه ته . او هغه ستاسو سره دے هر چائے چه يئے تاسو . او الله تعالى

بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ④ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ

ستاسو عملونو لره ليدونكے دے . خاص هغه لره بادشاهي ده اسمانونو

دا بل دليل عقلي مستقل دے او پنځه صفات دَ الله تعالى په كښې ذكر دى .
خلق ، استواء ، علم ، معيّت ، بصير . تفصيل دَ ستة ايام په سورة اعراف ۵۴ يونس
۳ هود ۷ فرقان ۵۹ سجده ۴ ق ۳۸ سورة حٰم سجده ۹ كښې تير شويدے
او مسئله دَ استواء هم په سورة اعراف ۵۴ سورة يونس ۳ سورة رعد ۲ طٰه
۵ فرقان ۵۹ السجده ۴ كښې تيره شويده حاصل دَ هغے دا دے چه عرش او
على او استواء درے واړه لفظونه په معنىٰ حقيقي سره مراد دى ليكن دَ هغے
كيفيت مونږ ته معلوم نه دے مونږ په هغه بغير دَ تمثيل او تشبيه دَ مخلوق نه منو
او تاويل په يئے نه كوؤ . يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ دا ۲ په سورة سبا ۲ كښې تير
شويدى هلته دا دليل دَ حمد دَ پاره وؤ او په دے سورت كښې دليل دَ تسبيح دے
وَهُوَ مَعَكُمْ (سوال) په مينځ دَ استواء على العرش او معيت دَ مخلوق سره
تعارض دے (جواب) بعض اهل علمو ويلے دى چه تعارض په دے دواړو كښې
په صفاتو دَ مخلوق كښې دے او صفات دَ خالق هيڅ مشابهت دَ صفتونو دَ مخلوق
سره نه لرى يعنى استواء او معيت دواړه په حقيقت باندے حمل دى او كيفيت
دَ دواړو مجهول دے او اكثر اهل علم وائي چه مراد دَ معيت نه معيت په علم
او په قدرت سره دے او شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله په شرح دَ حديث
النزول كښې او په مجموعه فتاوى ص ۱۳۴/۳ ص ۱۴۲/۳ ص ۱۱۳/۵ كښې دَ دے تشريح كړيده او
امام ذهبي دَ امام ابوحنيفه رحمه الله نه په كتاب مختصر العلو ص ۱۳۵ كښې هم دا سے
نقل كړيدى او ابن عبد البر ذكر كړيدى چه دا اجماع دَ صحابو او دَ تابعينو
ده او دا منقول ده دَ ابن عباس او ضحاك او مقاتل او سفيان ثورى او احمد
بن حنبل رحمهم الله نه ابن جرير هم په تفسير كښې ويلے دى چه الله تعالى
عالم دے په تاسو او په عملونو ستاسو باندے او سره دَ دے هغه په عرش
باندے دَ اسمانونو دَ پاسه دے . (سوال) دا خو تاويل دَ رپاتے په بل مخ)

وَالْاَرْضِ ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ۝۵ يُوْلِجُ

او دَ زمکے دہ - او خاص الله تعالیٰ ته گرځولے شی ټول کارونه - ننه باسے ته

الَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِي الَّيْلِ ۭ

شپه په ورځ کښ او ننه باسے ته ورځ په شپه کښ .

وَهُوَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝۶ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

او هغه پوره عالم دے په هغه خبرو چه په سینو کښ دی - ایمان راوړئ په الله تعالیٰ باندے

وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ

او په رسول دَ هغه باندے او خرچ کوئ دَ هغے مال نه چه جوړ کړی ئے تاسو وارثان

فِيْهِ ۭ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ

په هغے کښ. نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے ستاسو نه او خرچ ئے کړے دے دوی لره

په معنیٰ دَ مع کښ او تاویل خو په صفاتو دَ الله تعالیٰ کښ خلاف دے دَ مذهب دَ سلف صالحین نه او بدعت دے ؟ (جواب) ابن قدامه المقدسی په کتاب ذم التاویل کښ جواب ذکر کړے دے چه دا تاویل نه دے ځکه چه تاویل اړول دَ لفظ دی دَ ظاهر خپل نه او دَ معیت ظاهری معنیٰ هم داده چه په علم او قدرت سره دَ دوی سره دے ځکه چه لفظ دَ مع دَ اختلاط (دَ یو ذات دَ بل سره) دَ پاره نه دے وضع شوے او که منلے شی چه دا تاویل دَ سلفو صالحینو نه نقل دے نو دے ته تاویل محمود ویلے کیږی - او هغه تاویل مذموم دے چه دَ سلف صالحین نه نقل نه وی -

ف دا یو دلیل مستقل دے په دویم ایت کښ اشاره وه ملك دَ دُنیا ته او په دے کښ اشاره ده ملك دَ آخرت ته دَ دے وجے نه دلته دَ آخرت ذکر ئے کړے دے په والی الله ترجع الامور سره -

ف دا هم مستقل دلیل عقلی دے په تصرف کولو سره په زمانه کښ او دا ایلاج په اکثرو طرفونو دَ زمکه کښ دے چه کله ورځ اوګده وی او کله شپه. تر دے ځائے پورے خلاصه دَ دلیلونو داده چه تصرف کوونکے په هر څه کښ او عالِم

أَجْرٌ كَبِيرٌ ⑦ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ج

ثواب لوئے دے. او څه وجه ده تاسو لره چه ایمان نه راوړئ تاسو په الله تعالیٰ باندے

وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ

او (حال دا چه) رسول دعوت درکوی تاسو ته د پاره د دے چه ایمان راوړئ په رب خپل باندے

وَقَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ⑧

او یقیناً اخستے دے الله تعالیٰ لوظ ستاسو که چرے یئ تاسو مؤمنان نو.

په هر څیز باندے صرف الله تعالیٰ دے او په دے کښ د هغه هیڅ شریک نیشته نو دا دلیل شو په تسبیح د هغه باندے.

ك په دے ایت کښ د ترغیب الی الانفاق اوله وجه ده حاصل یئ دا دے چه دا مالونه په حقیقت کښ ستاسو نه دی تاسو په دے کښ وکیلان او نائبان د خپلو مشرانو یئ نو دا مالونه په صحیح مصرف کښ خرچ کړئ چه فائده درکړی. اٰمِنُوْا امر په ایمان سره یئ مخکښ ذکر کړو یو خو د دے وجے نه چه بغیر د ایمان نه انفاق کول برباد دی. دویمه وجه دا ده چه په صحیح ایمان سره انفاق کول اسانیږی او هر کله چه تیر شوی دلیلونه مقتضیٰ د ایمان دی د دے وجے نه په طریقه د نتیجے سره بغیر د عطف نه اٰمنوا یئ ذکر کړو. وَاَنْفِقُوْا مراد د دے نه عام دے زکوٰة او صدقات واجبه ته شامل دے او بالخصوص خرچ کول د پاره د اشاعت د توحید اول مراد دی.

مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ حسن بصری نه روایت دے چه مراد د دے نه استخلاف دے په وراثت سره د پلارانو نه نو اشاره ده چه دا مالونه لکه چه ستاسو د مشرانو نه میراث کښ پاتے شوی دی نو دا شان به ستاسو نه هم پاتے کیږی او دا احتمال هم شته چه مراد د دے نه استخلاف من الله تعالیٰ دے یعنی مالونه په حقیقت کښ د الله تعالیٰ دی لیکن تاسو یئ د لګ وخت د پاره په دے کښ عارضی مالکان ګرځولے یئ نو دا د هغه د حکم مطابق خرچ کړئ. فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اه اول په امر سره ایجاب وو او س په بشارت سره ترغیب ذکر کوی.

ك دا هم متعلق دے د تیر شوی ترغیب سره یعنی اول (باقے په بل مخ)

هُوَ الَّذِيْ يُنَزِّلُ عَلٰى عَبْدِهٖٓ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه نازلوی په بنده خپل باندے آیاتونه ښکاره

لِّيُخْرِجَكُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ

دَ دے دپاره چه اوباسی تاسو دَ تیارو نه رڼا ته .

وَاِنَّ اللّٰهَ بِكُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹﴾

او یقیناً الله تعالیٰ په تاسو باندے ضرور ډیر شفقت کوونکے رحم کوونکے دے .

داچه رسول صلی الله علیه وسلم ایمان او انفاق ته دا عیٰ وو او دویم داچه ستاسو ته لوظ اغستلے شوے دے او دریم داچه دَ ایمان تقاضا ده - وَمَا لَكُمْ په دیکښ عدم دَ عذر مراد دے یعنی دَ ایمان نه هیڅ مانع نیشته او اسباب داعیه شته دَ دے وجے نه ایمان فرض دے .لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ په دیکښ اشاره ده هغه ایمان ته چه سبب دَ انفاق وی لکه چه مخکښ آیت کښ تیر شو - وَالرَّسُوْلُ يَدْعُوْكُمْ دا اول سبب دَ ایمان او انفاق دے او اشاره ده چه وجوب په شرع باندے موقوف دے.
وَقَدْ اَخَذَ مِيْثَاقَكُمْ مراد دَ میثاق نه میثاق فطری او دلیلونه قائمول او میثاق ایمانی دے نو دا دویم سبب دے دَ ایمان او انفاق -اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ که مؤمنانو ته خطاب وی نو اِنْ په معنیٰ دَ اِذْ سره دے یا تاکید مراد دے یعنی تقاضا دَ ایمان دا ده چه انفاق اوکړئ او که خطاب کافرانو ته وی نو ان پخپله معنیٰ سره دے.
۹ دا هم دَ ترغیب سره متعلق دے یعنی دَ آیات بینات (په باره دَ ایمان او انفاق کښ) تابعداری کول سبب دَ اخراج دے دَ ظلماتو نه نور ته او سبب دَ رافت او رحمت الٰهیه دے .
عَلٰى عَبْدِهٖٓ چه هغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او په دے وصف سره ئے ځکه ذکر کړو اشاره ده چه هغه هم عبدیت دَ الله تعالیٰ کوی په ایمان او انفاق کولو سره اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ مراد دَ دے نه قرآن کریم دے ځکه چه قرآن کښ دلیلونه او احکام الٰهیه ښکاره او یقینیه دی.لِّيُخْرِجَكُمْ ضمیر فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے یا عبد ته راجع دے الظُّلُمٰتِ جهل، کفر، شرک، خواهشات متفرقه او بخل - اِلَى النُّوْرِ علم، توحید، ایمان، هدایت او یقین . لَرَءُوْفٌ رافت کښ اشاره ده چه ستاسو نه ظلمات دفع کوی. رَحِيْمٌ رحمت کښ اشاره ده رڼا ورکولو ته.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ

او څه وجه ده ستاسو چه خرڅه نه کوئ په لار د الله تعالیٰ کښ او خاص الله تعالیٰ لره

مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِي

میراث د اسمانونو او د زمکے دے برابر نه دی

مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ

ستاسو نه هغه څوک چه خرچ ئے کړیدے مخکښ د فتحے نه او جنګ ئے کړیدے

أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ

دغه کسان ډیر لوئے درجے والا دی د هغه کسانو نه

أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ

چه خرچ ئے کړیدے روستو او جنګ ئے کړیدے۔ او هر یو سره وعده کړیده الله تعالیٰ

الْحُسْنَىٰ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾ ع

ښائسته (جنت) او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے پوره خبردار دے

ع ١٠/١٧

سلا دادویمه وجه ده د وجوهو د ترغیب الی الانفاق نه په ترقئ سره په بیان کښ۔ یعنی که او منلے شی چه تاسو بالفرض اصلی مالکان د دے اموالو ئے لیکن ټول به مړه کیږے او مالونه به ټول الله تعالیٰ ته پاتے کیږی نو پکار دادی چه اوس ئے د مرګ نه وړاندے د الله تعالیٰ په لار کښ خرچ کړئے۔

وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ دا سے په سورة آل عمران سـ۱۸۰ کښ هم شته۔ میراث په اصل کښ استحقاق بے عوضه او بے تکلیفه ته ویلے کیږی۔ نو اشاره ده چه دا ټول عالم به د انسانانو نه بوخل خالی شی او صرف الله تعالیٰ به باقی وی او د هغه سره به د بل هیڅ حق او تصرف نه وی۔

لَا يَسْتَوِي مِنكُمْ اه په دے کښ تفاوت د درجاتو د مجاهدینو او د انفاق کوونکو ذکر کوی او د دے دوارو درجو ته په سورة واقعه کښ اشاره ده چه یو سابقون دی او بل اصحاب الیمین دی او دا په صحابه کرامو کښ هم وو (پاتے په بل مخ)

مَنۡ ذَا الَّذِیۡ یُقۡرِضُ اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا

څوک دے هغه کس چه قرض ورکړی الله تعالیٰ ته قرض ښائسته (په اخلاص)

فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗۤ اَجۡرٌ کَرِیۡمٌ ⑪ یَوۡمَ

نو زیات به کړی هغه (قرض) دهٔ لره اودهٔ لره ثواب دے عزت والا ـ په هغه ورځ

ځکه چه الفتح نه مراد صلح حدیبیه یا فتح مکه ده او دا رنګ په روستو امت کښې هم دا موجود دی ځکه چه الفتح نه عام فتحه مراد کیدې شی یعنی په یو ملک کښې چه دَ توحید او اسلام فتح او غلبه نه وی راغلے او په دغه وخت کښې چه څوک جهاد او انفاق کوی نو هغوی غوره دی دَ هغه چا نه چه روستو دَ غلبے نه جهاد او انفاق کوی. دَ لَا یَسۡتَوِیۡ مقابل محذوف دے یعنی مَنۡ لَمۡ یَفۡعَلۡ کَذٰلِكَ یا مِنَ الَّذِیۡنَ اَنۡفَقُوۡا اه دَ دے مقابل دے معنیٰ. وَکُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الۡحُسۡنٰی او دا سے په سورة النساء ۹۵ کښې ذکر شویدی او په حدیث دَ مسلم کښې راغلے دی اَلۡمُؤۡمِنُ الۡقَوِیُّ خَیۡرٌ وَّاَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ مِنَ الۡمُؤۡمِنِ الضَّعِیۡفِ وَفِیۡ کُلٍّ خَیۡرٌ. او دا جمله دَ دے دَپاره ذکر شوه چه دَ دویم جانب ذَم او بدی او نکړے شی.

سلا دا دریمه وجه ده دَ وجوهو دَ ترغیب الی الانفاق نه په ترقیٔ سره. یعنی قرض کړه چه مالونه ستا همیشه دی لیکن دَ قرض په طور سره ئے ورکړه دا مروّت او انسانیت دے. قرض په اصل کښې پریکولو ته ویلے کیږی. لیکن په عرف کښې مال ورکول بل چا ته بغیر دَ عوض نه دَپاره دَ دے چه فائده ترینه واخلی او بیا واپس ادا کړیشی او په عرف دَ عربو کښې هرے نیکیٔ کولو ته هم ویلے کیږی نو بنا په اول معنیٰ عرفی سره صدقه او انفاق فی سبیل الله ته قرض مجازًا او ترغیبًا ویلے کیدے شی ځکه دا دَ الله تعالیٰ دَ دین سره امداد کول دی. قَرۡضًا حَسَنًا. قرطبی دَ قشیری نه نقل کړیدی چه دَ قرض حسن لس شرطونه دی. اخلاص دَ نیت، طلب دَ رضا دَ الله تعالیٰ، دَ حلال مال نه، کړه مال ورکول، مخکښې دَ حال دَ ځنکدن نه ورکول، پټ ورکول، احسان او اذی نه کول، ورکړے شوے صدقه لګه ګنړل. محبوب مال ورکول، دیر قیمت والا ورکول، دا ټول سبب دَ حُسن دے په انفاق کښې.

تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ

چه وینے به ته مؤمنان سړی او مؤمنے زنانه چه منډے به وهی رڼا د دوی

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ

مخے د دوی ته او په ښی طرفونو د دوی کښ (ورته به ویلے کیږی چه) زیرے ستاسو نن

جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

جنتونه دی چه بهیږی به لاندے د هغے نه ولے همیشه به وی

فِيْهَا ۗ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑫ يَوْمَ

په هغے کښ دا لویه ده کامیابی په هغه ورځ

فَيُضٰعِفَهٗ لَهٗ ضعف دوه چنده وی بیا باب مفاعله د پاره د مبالغے ده نو د هغے دوچندکولو انتها معلومه نه ده او مراد د دے ثواب په ډیرو چندونو سره زیاتی ورکول دی لیکن ضمیر اول یٔے قرض ته راجع کړو اشاره ده گویا چه هغه مال (قرض ورکړے شوے) دالله ډیر کړی نو د هغے د وجے ثواب یٔے هم ډیر شی. وَلَهٗٓ اَجْرٌ كَرِيْمٌ دا نورو ثوابونو ته اشاره ده بغیر د صدقے ورکولو نه چه د هغے سره کرامت او عزت کول هم دی.

⑫ دا بشارت اخرویه دے مؤمنانو انفاق کوونکو ته. يَوْمَ ظرف متعلق دے په وَلَهٗ اَجْرٌ كَرِيْمٌ پورے یا لفظ اذکر مقدّر دے. تَرَى هر هغه چا ته خطاب دے چه لیدل به کولے شی په ورځ د قیامت کښ.

نُوْرُهُمْ دا نُور حقیقتًا به وی په سبب د ایمان او اتباع سنت او انفاق فی سبیل الله سره او دا نُور د هغه نور نه سیوا دے چه د دوی په مخونو او لاسونو او خپو باندے ښکاریږی په سبب د ایمان او اودسونو کولو سره.

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ دا دواړه طرفونه د نیک بختو د پاره خاص دی دوی ته به د مخے طرف ته په ښی لاسونو کښ عملنامے هم ورکیدے شی نو رڼا به هم په دے دواړه طرفونو کښ وی. خطیب او رازی ویلی دی چه د ایمان او عمل صالح په سبب سره رڼا به مخے طرف ته وی او د انفاق د وجے نه به رڼا په ښی طرف باندے وی ځکه انفاق یٔے په ښی لاس سره کړے دے د سنت مطابق. په دے معنی سره باَ په بِاَيْمَانِهِمْ کښ په معنیٰ د عن سره ده او د ضحاک نه (رپاتے په بل مخ)

يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ

چه وائي به منافقان سړي او منافقانې ښځې هغه کسانو ته چه

اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ

ايمان يې راوړے دے انتظار اوکړئ زمونږ چه واخلو مونږ ستاسو د رڼړا نه او به وئيلے شي

ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ۗ فَضُرِبَ

اوګرځئ واپس شاګانو ستاسو ته نو اولټوئ رڼړا نو جوړ به شي

بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ۗ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ

د دوی په مينځ کښې يو ديوال چه د هغه به دروازه وي دننه به په هغې کښې رحمت وي

وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ۗ ﴿۱۳﴾ يُنَادُوْنَهُمْ

او د بهر د طرف د هغې نه به عذاب وي - ا‌وازونه به کوي هغوی ته

روايت دے چه بأ په معنیٰ د في سره ده او دا خبر مقدم دے او مبتدا يې پته ده يعنی د فِيْ اَيْمَانِهِمْ كُتُبُ اَعْمَالِهِمْ . ر د دوی په خی لاسونو کښې به عملنامے وی او رڼړا به صرف مخے طرف ته وی ، والله اعلم) او دا سے په سورۃ تحريم سـ ۸ کښې دی . بُشْرٰكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ ، يُقَالُ لَهُمْ په اول کښې دُخُوْلُ لفظ د جنات نه مخکښې پټ مراد دے يا دا جمله حاليه ده په تقدير د يُبَشَّرُوْنَ سره .

سـ ۱۳ دا تخويف اخروی دے منافقينو ته دا هغه خلق دی چه هسے دعوے د ايمان يې کولے او حقيقت کښې يې ايمان نه وؤ او انفاق يې هم نه کوؤ بلکه بخل يې کوؤ او نورو خلقو ته يې هم په بخل سره امر کوؤ . يَوْمَ بدل دے د مخکښې يوم نه يا اذکر مقدر دے يا متعلق دے په الفوز العظيم پورے .

اُنْظُرُوْنَا په معنیٰ د نظر کولو په نظر د شفقت سره دے يا په معنیٰ د انتظار کولو دے . نَقْتَبِسْ اقتباس د بلے شوے رڼړا نه ځان د پاره ليت بلول ځمراد ترينه رڼړا حاصلول دی . او په دے کښې دوه قولونه د مفسرينو دی اول قول دا چه منافقانو له به هم څه نُور ورکړے شی او بيا به مړ کړے شی دويم قول دا چه دوی له نُور نيشته صرف اميد يې دا دے چه د مؤمنانو په نُور سره

أَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ۖ قَالُوا بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ

آیا مونږ ستاسو ملګری نه وو؟ دوی به اوائی هاؤ لیکن تاسو ګمراه کړے وو

أَنفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ

خپل ځانونه او انتظار هم کوو او پوخ شک کښې پراته وئے او دهوکه کړے وئے تاسو

الْأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَاءَ أَمْرُ اللَّهِ وَغَرَّكُم بِاللَّهِ

خپلو خواهشاتو تردے پورے چه راغے حکم دَ الله تعالیٰ او دهوکه کړے وئے تاسو په الله تعالیٰ

الْغَرُورُ ﴿۱۴﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنكُمْ

باندے دهوکه درکوونکی. نو نن به نشی اخستلے کیدے ستاسو نه

به مونږ په صراط باندے لاړ شو لیکن هغوی خو ډیر تیز په صراط باندے تیر شول نو منافقان دَ رنړا نه بالکل محروم شول. قِيلَ ارْجِعُوا وَرَاءَكُمْ دا قول دَ مؤمنانو یا دَ ملائکو دَ طرف نه دے او مراد ارجعوا نه نا امیده کول دی دَ رنړا نه وَرَاءَكُمْ دَ دے نه مراد دنیا ده ځکه چه نور په توحید او انفاق سره په دُنیا کښې حاصلیدلو. یا مراد ترینه میدان حشر دے چه په هغے کښې مؤمنانو ته نور حاصل شوے دے. بِسُورٍ او دے ته حجاب او اعراف هم ویلے شویدے په سورة اعراف ۴۶ کښې بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ مراد دَ رحمت نه جنت دے. الْعَذَابُ دَ دے نه مراد جهنم دے یعنی په دغه دروازه باندے صرف جنّت والا داخلیږی او منافقانو ته په هغے کښې اجازت دَ داخلیدلو نه ملاویږی نو هغوی به جهنم ته نزدے کړے شی.

۱۴ يُنَادُونَهُمْ بِنداء دَ لرے دَ پاره وی اشاره ده چه مؤمنان به دَ دوی نه لرے لرے لاړ شی او دروازه به بنده شی نو منافقان به په چغو سره آواز ورکوی. مَّعَكُمْ په جماعاتو او غزواتو او ټولو واجباتو کښې. وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ الخ دَ منافقانو پنځه اوصاف ئے ذکر کړے دی چه په سبب دَ هغے دغه عملونه برباد شویدی. اول وصف فَتَنتُمْ په فتنه دَ شرك او نفاق کښې ئے ځان غورځولے دے او دا سبب دَ تباهئ دے ځکه ئے ورته فتنه اُویل. دویم وَتَرَبَّصْتُمْ دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ مؤمنانو په باره کښې دَ حوادثو انتظار کوئ (رپاتے په بل مخ)

فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ مَاْوٰىكُمُ النَّارُ ۭ

هیځ جرمانه او نه د هغه کسانو نه چه کفر ئې کړے دے ځائے د ورتللو ستاسو اور دے

هِيَ مَوْلٰىكُمْ ۭ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ يَاْنِ

هغه ستاسو سره لائق دے او بد ځائے د ورتللو دے دا اور - آیا وخت نه دے نزدے شوے

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ

مؤمنانو ته چه عاجزی اوکړی زړونه د دوی

لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ ۙ وَلَا يَكُوْنُوْا

د الله تعالی یا داشت ته او هغه حق ته چه نازل شوے دے او چه نشی دوی

چه دوی ختم شی نو تاسو به بیا کفر ښکاره کړئے لکه سورة توبه ۹۸ ۵۲ - او دا رنګ په توبه کولو سره روستو والے کول هم تربص دے - درېیم وَارْتَبْتُمْ په توحید او صداقت د رسول او بعث بعد الموت او په وعده د الله تعالی کښ تاسو شکونه کوئے - څلورم وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ بے دلیله مسئلے او خبرے چه ناکاره ملایانو او پیرانو د ځان نه جوړے کړیدی او دا رنګ اوګده امیدونه او ارمانونه په دے سره تاسو دهوکه شویوئے او په دے وجے سره مو په توحید او رسالت باندے په زړه کښ یقین نه کوو - حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ دا غایه ده د څلورو وارو حالتونو او اَمْرُ اللّٰهِ نه مراد مرګ او قیامت دے - پنځم وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ دا سبب دے د مخکښ ټولو اوصافو د پاره د دے وجے نه ئې روستو مستقل ذکر کړو او د دے تفسیر په سورة لقمان ۳۳ او سورة فاطر ۵ کښ تیر شویدے -

۱۵ دا تخویف اخروی دے او دا داخل دے لاندے د قول د مؤمنانو منافقانو ته یا دا قول د الله تعالی یا د ملائکو دے دوی ته -

فِدْيَةٌ هیڅ قسم فدیه نه په مال او نه په نفس سره او نه په لګ مال او نه په ډیر مال سره - او په دے کښ د دوی امید قطع کول دی د نجات نه - مَوْلٰىكُمْ په معنی د اولی سره دے یا په معنی د مددګار دے په طریقه د تهکم سره یا په معنی د متولی دے یعنی الله تعالی به د دوی عذاب اُور ته او سپاری او هغه به د دوی د عذاب متولی شی -

كَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ

دَ هغه كسانو چه كتاب وركړے شوے دے دَ دے نه مخكښ نو اوګډه شوه پشان

عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ وَكَثِيْرٌ

په دوی باندے موده نو سخت شول زړونه دَ دوی او ډير

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِعْلَمُوْۤا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ

دَ دوی نه پوره نافرمان دی . پوهه شئ چه يقينًا الله تعالی ژوندے كوی

۱۶ په دے ايت كښ زجر دے منافقانو ته روستو دَ تخويف نه . لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا هغه كسان چه په ژبه باندے دَ ايمان دعوے كوی او انفاق فی سبيل الله هم نه كوی. او دا رنګ هغه مؤمنان په دے كښ داخل دی چه په ګناهونو كښ اخته دی او تو په كولو او قران او ريدلو ته التفات نه كوی - او كوم روايت چه ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے چه دا خطاب مونږ (صحابو) ته دے نو دا ئے دَ وجے دَ تواضع او دَ انكسار نه ويلے دی ګنه صحابه كرام وخشوع نه ده پريخودے او نه زړونه ئے سخت شوے نه دی لكه چه تور نصوص او تاريخ دَ صحابو دَ هغوی په محبت دَ قران او په خشوع باندے دلالت كوی لكه سورة زمر ۲۳ كښ .

اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ مراد دَ خشوع نه په قران كريم سره زړه مطمئن كيدل او دَ ايمان زياتيدل او ويريدل او نرم كيدل او ژړا كول او په اندامونو كښ تابعداری پيدا كيدل دی ځكه چه خشوع دَ زړه سره خشوع دَ ټولو اندامونو لازمه ده - لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ دواړو نه مراد قران كريم دے ليكن په اول لفظ كښ اشاره ده مسائلو دَ ايمان او دَ عقيدے ته او په دويم لفظ كښ انفاق فی سبيل الله او نورو عملونو ته چه قران كښ نازل كړے شوی دی .

وَلَا يَكُوْنُوْا اعطف دے په تخشع باندے په حالت دَ نصب كښ دے او وجه دَ ترتيب ئے دا ده چه خشوع دَ زړه مانع دے دَ مشابهت دَ يهود او نصاری سره او دَ قسوة دَ قلب نه - يا دا مستقله نهی ده ابن كثير ليكلی دی چه په دے كښ منع ده دَ مؤمنانو دَ تشبيه دَ كتابيانو سره چه هر كله په هغوی باندے عمر ډير تير شو او كتاب دَ الله تعالی ئے بدل كړو او په هغے باندے دُنيا ګټله او كتاب دَ الله ئے شا ته او غورځوو او په رايئے په بدل مخ)

الْاَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْاٰيٰتِ

زمکه روستو دَ اوچیدلو دَ هغې نه. یقیناً ښکاره بیان کړیدي مونږ تاسو ته آیاتونه

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۷﴾ اِنَّ الْمُصَّدِّقِیْنَ

دَ دے دَپاره چه دَ عقل نه کار واخلئ. یقیناً تصدیق کوونکي سړي

وَالْمُصَّدِّقٰتِ وَاَقْرَضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

او تصدیق کوونکے زنانه او چا قرض ورکوی الله تعالیٰ ته قرضه په اخلاص سره

يُّضٰعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ اَجْرٌ كَرِيْمٌ ﴿۱۸﴾

زیاتي کیدے شي (دا قرض) دَپاره دَدوی او دوی دَپاره ثواب عزتمند دے.

مختلفو ارادو او اقوالو پسے تابع شول او تقلید ئے شروکړو او ملایان او پیران ئے ارباب او کنټرول نو په زړونو دَ هغوی کښ قسوة پیدا شو. نو نه وعظ قبلوی او نه په وعد او وعید سره دَ هغوی زړونو کښ نرمی راځی. فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ مراد دا چه په غفلت کښ ډیر وخت تیر شو او دوی ته هیڅ عذاب رانغے بلکه نعمتونه دَ دُنیا ورته ډیر حاصلیدل. وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ یعنی قسوة دَ قلب په ټولو کښ پیدا شو لیکن لږو کسانو بیا توبه اُویستله یا دَ کفر نه ئے ځان بچ او ساتلو او ډیرو کفر اوکړو تر دے پورے چه قرآن او آخری رسول نه ئے انکار اوکړو یعنی دَ فسق نه مراد کفر کول دی.

۱۷ په دے کښ ترغیب دے قرآن ته په طریقه دَ مثال سره یعنی څرنګه چه الله تعالیٰ اوچه زمکه کښ تازګی پیدا کوی په باران سره نو دا رنګ سخت زړونو لره هم نرموی په قرآن سره کله چه دَ هغوی هدایت اوغواړی.

الْاٰيٰتِ نه مراد قرآن دے. دا رنګ دا آیت تخویف دے یعنی لکه چه الله تعالیٰ زمکه تازه کولے شي دا رنګ به تاسو روستو دَ مرګ نه دوباره ژوندی کړی او دَ قسوة قلب سزا به درکړی او الْاٰيٰتِ نه مراد دلیلونه دَ بعث بعد الموت دی.

۱۸ روستو دَ زجر او تخویف نه. خلاؤ نه، بشارت او ترغیب دے انفاق کوونکو ته الْمُصَّدِّقِیْنَ اه دَ تاکید دَپاره صیغه مذکر او مؤنث دواړه ذکر دی دا رنګ تعبیر دَ تصدّق او دَ قرض دواړه دَپاره دَ ترغیب دی په اول تعبیر کښ اشاره ده

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَٰئِكَ

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے په الله تعالیٰ او په رسولانو د هغه باندے دغه کسان

هُمُ الصِّدِّيقُونَ ۖ وَالشُّهَدَاءُ عِندَ رَبِّهِمْ

دوی صدیقین دی او شهداء دی په نیز د رب د دوی

لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

دوی د پاره ثواب د دوی دے او رڼا د دوی ده او هغه کسان چه کفر ئې کړے دے

ع ۲ ۹ ۱۸ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١٩﴾

او دروغژن ګڼړی ایاتونه زمونږ دغه کسان جهنم والا دی ۔

نظر کولو مسکینانو فقراؤ ته او په دویم تعبیر کښ اشاره ده لحاظ کولو د الله تعالیٰ ته بغیر د ریا او سُمعة وغیره ته دا رنګ اول کښ اشاره ده زکوٰة او نورو واجباتو او نفلی خیراتونو ته او په دویم کښ اشاره ده انفاق په لار د دعوت او د اشاعت د دین کښ او جهاد او قتال د پاره ۔

س۱۹ د مؤمنانو یو قسم ذکر شو چه هغوی ته صالحین ویلے کیږی نو په دے ایت کښ باقی نور اقسام د اهلِ ایمان ذکر کوی، رسل ، صدیقون ، شهداء ، او د دوی د پاره بشارت ذکر کوی او دا اقسام د سعداؤ دی او بیا اشقیاء هم ذکر کوی او د هغوی د پاره تخویف اخروی ۔ الصِّدِّيقُونَ صدیق مبالغه ده په صدق او په تصدیق کولو کښ او ابن قیم په طریق الهجرتین کښ په مضمون د طبقاتو د انسانانو کښ لیکلی دی چه مرتبه د نبوت پسے مرتبه د صدیقیت ده او دوی ربانیون او راسخون فی العلم دی او واسطے دی په میخ د رسول او د امت د هغه کښ او دوی دعوت کوونکی دی طریقے د رسول صلی الله علیه وسلم ته ۔ او د مجاهد نه روایت دے چه هر مؤمن بِاللّٰه والرُّسُل صدیق دے نو دا په عامه معنیٰ سره مراد دے ۔

وَالشُّهَدَاءُ ۔ ۱ شهادت کوونکی په توحید او رسالت سره ۔ ۲ شهادت کوونکی په ورځ د قیامت په خلقو باندے په دعوت او تبلیغ سره ۔ ۳ دعوت او بیان کوونکی په دنیا کښ ۔ ۴ قتل کړے شوی فی سبیل الله ۔ (پاتے په بل مخ)

اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّ

پوهه شئ | يقيناً | ژوند | دنيوى | لوبے | او مشغله ده | او

زِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْاَمْوَالِ

ښول دے | او لوئي كول دي | په مينځ خپل كښ | او | سيالى دَ ډيرو | مالونو

وَالْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ

او دَ اولاد ده | (دَدے مثال) پشان دَ حال دَ فائده مند باران دَ چه خوشحاله كړى زميندارو لره بوټى دَ هغے

ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ

بيا | اوچ شي | نو ته وينے هغه | زيړ | بيا | شي

حُطَامًا ؕ وَفِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ

ذرے ذرے | او | په | آخرت كښ | عذاب | سخت دے

په دے كښ دا توں احتمالات جائز دي -

فائده :- په دے كښ دَ سلف مفسرينو نه دوه قولونه نقل كړے شويدى اول دا چه والشهداء معطوف دے په الصديقون باندے يعني هر مؤمن صديق او شهيد دے لكه چه دا سے قول دَ مجاهد نه روايت دے بنا په دے توجيه باندے چه شهداء كښ درے اولے معانے چليدلے شي ليكن څلورمه معنیٰ مناسب نه ده دويم قول دادے چه والشهداء دَ سر نه كلام دے او مبتداء ده او ولهم اجرهم دَ دے خبر دے بنا په دے باندے دَ شهداء څلورواړه معانے مراد كيدلے شي او مقصد په كلام كښ اقسام او مرتبے دَ مؤمنانو ذكر كول دي -

عِنْدَ رَبِّهِمْ دَ شهداؤ نه چه اوله معنیٰ يا دريمه معنیٰ مراد شي نو دَ عند نه مراد حكم دَ رب دے يعني حكم په دنيا كښ ، او چه دَ شهداء دويمه معنیٰ مراد شي نو عند نه مراد ورځ دَ قيامت ده او كه دَ شهداء نه څلورمه معنیٰ مراد شي نو دَ عند نه مراد نزديكت دے رب ته او جنت مراد دے -

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا په دے كښ ذكر دَ اشقياؤ دے دَ پاره دَ تقابل او دوى ته تخويف دے -

وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ۚ وَمَا الْحَيٰوةُ

او بخشش دے د طرف د الله تعالیٰ نه او رضا د هغه ده او نه دے ژوند

الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ۝ سَابِقُوْٓا

د نیوی مگر سامان دهوکه ورکوونکے - وړاندے شئ د یو بل نه

ف۲ په دے کښ څلورمه طریقه ده ترغیب الی الانفاق ته حاصل دا چه د دنیا په مالونو کښ هیڅ باقی فائده نیشته بلکه زر فنا کیدونکی دی نو ضروری ده چه په دے سره مغفرت او جنت او گټئ په انفاق فی سبیل الله سره۔ اِعْلَمُوْا په دے کښ تزهید فی الدنیا دے په پنځه طریقو سره او په هغې کښ احسن ترتیب دے هغه دا دے چه اَلْحَيٰوةُ الدُّنْيَا نه مراد سامانونه د دُنیا دی یا عمر د دُنیا دے چه په وړوکوالی کښ هر یو څیز ورته د لوبو څیزونه ښکاریږی بیا چه لګ لوئے شی نو ټول څیزونه ورته تماشے او مشغلے ښکاره کیږی بیا چه ځوانئ ته نژدے یا ځوان شی نو د ډول ډول سره ئې محبت وی بیا چه پوخ عمر ته اورسی نو په دے څیزونو سره په یو بل باندے فخر او لوئی کوی بیا چه بوډاوالی ته اورسیږی نو په مال باندے حرص شورو کړی او د هغې په جمع کولو کښ کوشش کوی نو دا عمر په دے پنځو حالتونو کښ تیرشی بیا ورپسے مرګ او فنا ده نو هغه په طریقه د مثال سره ذکر کوی کَمَثَلِ غَيْثٍ حاصل د مثال دا دے چه باران اوشی نو بوټی خائسته پیدا شی بیا او چ شی بیا ئې رنګ بدل شی نو بیا ذرے ذرے بوس شی دا رنګ انسان اول چه پیدا شی نو څه زمانه پورے تازه او خوشحاله وی بیا وریاندے د دنیا غمونه شورو شی نو او چیږی او رنګ ئې زیړ شی او بیماری وریاندے راشی بیا بوډا شی نو مړ شی۔
وَفِي الْاٰخِرَةِ اه یعنی هغه ژوند د دنیا چه په دا سے طریقه باندے تیرشی چه د دین د پاره صرف نشی نو په آخرت کښ سبب د عذاب او گرځی۔
وَمَغْفِرَةٌ اه یعنی که ژوند د دُنیا د آخرت او د دین د پاره خرچ کړے شی نو سبب د مغفرت او د رضوان دے۔
وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا اه په دے جمله کښ د ماقبل د پاره سبب ذکر کوی یعنی محبت د څیزونو د دُنیا انسان لره په دهوکه کښ واچوی (پاتے په بل مخ)

إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا

بخشش دَ رب ستاسو ته او جنت ته چه وسعت دَ هغې

كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ

پشان دَ وسعت دَ اسمانونو او دَ زمکې دے تیار کړے شوے دے

لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۚ ذَٰلِكَ

هغه خلقو له چه ایمان راوړی په الله تعالیٰ او په رسولانو دَ هغه باندے دا

فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَاللَّهُ

فضل دَ الله تعالیٰ دے ورکوی ئے هغه چاته چه اوغواړی او الله تعالیٰ

ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٢١﴾ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ

خاوند دَ لوئے فضل دے . نه رسیږی هیڅ مصیبت

نو غه تیرشوی حالات رنځه) دَ هغې نه پیدا شی. أَعْجَبَ الْكُفَّارَ غوره دا ده چه مراد دَ دے نه کافران دی ځکه چه اعجاب تکبر ته ویلے کیږی او دَ دنیا په څیزونو باندے تکبر کول دَ کافرانو کار دے۔

سلا روستو دَ تزهید فی الدنیا نه ترغیب الی الآخرة دے یعنی دَ دُنیا دَ زړونو او دَ مال په ذریعه مغفرة او جنت اوګټئ په انفاق فی سبیل الله سره۔

إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ ذکر دَ مسبب مراد دَ دے نه سبب دے هغه ځان بچ کول دی دَ غرور دَ دنیا نه او توبه کول دی - وَجَنَّةٍ اول مغفرة دَ ګناه دے نو ورپسے دخول دَ جنت دے ځکه ئے په دے ترتیب سره ذکر کړو - عَرْضُهَا عرض مقابل دَ طول وی او عادت دا دے چه عرض کم وی دَ طول نه چه هرکله دَ عرض اندازه دَ اسمانونو او زمکے پشان ده نو دَ طول خو اندازه نه معلومیږی یا عرض په معنیٰ دَ صرف وسعت دے - او داټول جنتی دَ جنت اندازه ده دا قول قرطبی ذکر کړے دے۔

كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ دَ مفرد نه مراد جنس دے یعنی ټول اسمانونه او زمکے چه دَ یو بل سره پیوست کړے شی او یو تخته ترینه جوړه کړے شی۔

فِي الْأَرْضِ وَلَا فِيٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَٰبٍ مِّن

په زمکه کښې او نه په ځانونو ستاسو کښې مګر هغه د په تقدیر (لیکلو) کښې

قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ

مخکښې د موجود کولو د هغې نه یقیناً دا په الله باندے

أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا اه په دے کښې د الله د رحمت لوئے امید دے اشاره ده چه د ایمان سره ئے بل قید نه دے لګولے یعنې په صرف ایمان سره دا جنت حاصلیږی۔ هاں د عذاب ذکر ورسره نیشته هغه د الله تعالیٰ خوښه ده چه ګنهګار مؤمن له سزا ورکوی او که نه ورکوی خو جنت به ورکوی۔

ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ اه دا دلیل دے چه جنت په فضل او رحمت د الله تعالیٰ سره حاصلیږی۔ هاں ایمان او عمل صالح الله تعالیٰ ښکاره سبب ګرځولے دے۔

فائده:- دا سے ایت په سورة آل عمران ۱۳۳ کښې تیر شوے دے لیکن فرق ئے په درے طریقو سره دے۔

اول دا چه هلته سارعوا دۀ او دلته سابقوا دے۔

دویم دا چه هلته السموات والارض په جمع سره بغیر د حرف تشبیه نه ذکر دی او دلته مفرد سره د کاف تشبیهی نه ذکر دے۔

دریم دا چه هلته متقیانو ذکر دے او دلته مؤمنان ذکر دی۔ وجه د فرق دا ده چه سارعوا دلالت کوی چه په مرتبه کښې برابر دی لیکن د یو بل سره د په کارونو د خیر کښې جلتی اوکړی او سابقوا دلالت کوی چه د دوی په مرتبو کښې د یو بل سره مسابقت او فرق دے او دا رنګ مسابقت بنا دے په مسارعت باندے چه جلتی د یو بل نه کوی نو هله مخکښې کیدے شی۔

نو په سورة آل عمران کښې د متقیانو حال ذکر کولو او هغوی کامل مؤمنان دی نو هغوی په مرتبه د تقوی کښې یو بل سره برابر دی نو د هغوی سره لفظ د مسارعت مناسب دے دا رنګ د هغوی په بشارت کښې د تاکید د وجے نه سموات لفظ جمع ذکر کړو بغیر د حرف د تشبیهه نه او په دے ایت کښې د عامو مؤمنانو ذکر دے چه د هغوی په مراتبو کښې فرق دے نو د دوی سره د مسابقت تعبیر مناسب دے (والله اعلم)۔

يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ

آسان دے. (دا عقیده) دَ دے دَپاره ده چه غمژن نه شئ په هغه نعمت چه فوت شی ستاسو نه

وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ

او لوئی اونکړئ په هغه نعمت چه درکړے ئے تاسو ته او الله تعالیٰ نه خوښوی

۲۲ په دے آیت کښ پنځمه وجه دَ ترغیب الی الانفاق ده په طریقه دَ دفع کولو دَ وهم سره یعنی که څوک وهم اوکړی چه مالونه خرچ کول پکار نه دی بلکه مصیبتونو دَ دفع کولو دَپاره مالونه ساتل پکار دی نو په دے آیت کښ جواب کوی چه مصیبتونه دَ مخکښ نه په تقدیر کښ مقرر دی هغه په مالونو سره نشی دفع کیدلے۔

او دا رنګ چه تیرشوی آیت کښ امر اوشو په سابقوا سره نو وهم راغے چه په دے مسابقت کښ تکلیفونه راځی نو دَ دے نه ځان ساتل پکار دی؟

جواب دا دے چه تقدیر کښ مقرر وی نو هغه په ضرور واقع کیږی۔

فِي الْأَرْضِ قحط، وباء، ګرانی، سیلابونه، زلزلے، فصلونه خرابیدل وغیره

وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ مرضونه، فقیری، اولاد مړه کیدل، تنګسیا دَ ژوند وغیره۔

إِلَّا فِي كِتَابٍ دا دلیل دے چه تقدیر صرف علم دَ الله تعالیٰ نه عبارت نه دے بلکه ورسره لیکل دی په لوح محفوظ کښ۔ او په تعبیر دَ کتابت سره په ډیر آیاتونو کښ ذکر دے لکه په سورة العمران ۱۴۵ سورة توبه ۵۱ سورة مجادله ۲۱ سورة حشر ۳ سورة مائده ۲۱ سورة انعام ۳۸، ۵۹ او نور ډیر آیاتونه دی او احادیث هم په دے باب کښ ډیر دی نو څوک چه دَ تقدیر نه انکار کوی یا کتابت دَ تقدیر نه منی بلکه صرف علم دَ الله تعالیٰ منی دواړه په باطله عقیده کښ مبتلا دی اګرچه په دواړو کښ فرق شته دے۔

مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا ضمیر مصیبت ته راجع دے یا زمکے او نفسونو ته راجع دے۔

إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ په دے سره هغه وهم دفع کوی چه الله تعالیٰ په راتلونکی حالاتو باندے څه رنګ علم لری او دا رنګ دا بے شماره خیزونه ئے څرنګ اولیکل په دے جمله سره ئے جواب اوکړو چه دَ الله تعالیٰ علم او قدرت په نسبت دا ټول آسان دی، دا په مخلوق باندے قیاس کول جائز نه دی۔

كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِ ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ

هر ځان لوئے ګڼرونکے او چل ستائینه کوونکے ۔ هغه کسان چه شومتیا کوی

وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

او حکم کوی نورو خلقو ته په شومتیا کولو سره او چا چه مخ اوګرځوؤ

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۴﴾ لَـقَـدْ

نو یقیناً الله تعالیٰ هغه بے حاجته دے ستائیلے شویدے ۔ یقیناً

سـ۲۳ـ په دیکښ فائدے دَ ایمان بالتقدیر ذکر کړیدی۔ لِکَیْلَا اه متعلق دَ محذوف دے
(اَعْلَمْنَاکُمْ) یعنی خبر درکړو موتږ تاسو ته چه هر مصیبت او دا رنګ هر نعمت
دَ مخکښ نه مقرر کړے شویدے نو اوله فائده دا ده چه دَ انسان نه څه نعمت
فوت شی عافیت ، روزی ، صحت ، مال وغیره نو په هغے پسے به خفګان نه کوی او
او به وائی چه دا خیز که زما دَ پاره مقرر وے نو زما نه به نه فوت کیدلو ۔ دویمه فائده
دا ده چه وَلَا تَفْرَحُوْا اه یعنی چا ته چه څه نعمت او رسیږی عافیت ، فراخی دَ
مال وغیره نو هغه به په هغے باندے لوئی او تکبر نه کوی بلکه او به وائی
چه دا زما په کوشش سره نه دے حاصل شوے بلکه الله تعالیٰ مقرر
کړے وؤ ۔ یعنی انسان اکثر دَ مصیبت په وخت کښ خفه او پریشان وی
او دَ نعمت په وخت خوشحال او غافل او متکبروی خو چه په تقدیر باندے
ایمان لری نو دَ دے دواړو مرضونو نه به بچ وی . بلکه هر وخت به الله تعالیٰ
یادوی او هر څه به دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ګڼړی نو مخلوق ته به خپل حاجات
نه پیش کوی ۔ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ دا ذکر دَ صفاتو قبیحو دے چه
په انکار دَ تقدیر نه پیدا کیږی بیا په مینځ دَ دے دواړو کښ فرق په دیرو وجو
سره دے ۔ اول دا چه مختال هغه دے چه خپل ځان لوئے ګڼړی او فخور
هغه دے چه بل چا باندے خپله لوئی ښکاره کوی ۔ دویم دا چه ځان ته دَ لوئے
په نظر سره ګوری نو مختال دے او چه نورو خلقو ته په سپک نظر سره
ګوری نو فخور دے ۔ دریم دا چه مختال چه دفع کول دَ مصیبتو نو دَ الله تعالیٰ دَ
طرف نه نه ګڼړی او فخور هغه دے چه حصول دَ نعمت پخپل طاقت او قدرت کښ ګڼړی۔
سـ۲۴ـ دا زجر دے بخلاؤ ته او دَ تقدیر نه منلوالا رذکر کوی ۔ (پاتے په بل مخ)

أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَأَنْزَلْنَا

رالیږلی دی مونږ رسولان خپل په ښکاره حکمونو سره او نازل کړیدی مونږ

مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ

دَ دوی دَ ملګرتیا دَپاره کتابونه او دَ تللو څیز دَپاره دَ دے چه اودریږی

النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ

خلق په انصاف سره او پیدا کړیده مونږ (په اسمانی تدبیرونو) سره او سپنه چه په هغې کښ

بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ

(سامان) جنګ سخت دے او نورے نفعے دی خلقو لره او دَ دے دَپاره چه ښکاره کړی

اللّٰهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ

الله تعالیٰ هغه چا لره چه مدد کوی دَ هغه او دَ رسولانو دَ هغه سره سرهٔ دَ نه لیدلو نه .

۱۶/۳ ۱۹ إِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ ع وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

یقیناً الله تعالیٰ قوت والا زورآور دے . او یقیناً لیږلی دی مونږ

يَبْخَلُونَ دا عام دے بخل کول په علم او په مال او په احسان کښ ټولو ته شامل دے بلکه ابن کثیر ویلے دی چه هر فعل دَ منکر ته شامل دے . وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ یعنی بخیله هم ګمراه دے او نور خلق هم ګمراه ځی ته یلی ضَالٌ او مضل دے لکه سورة منافقون کښ راځی . وَمَنْ يَتَوَلَّ دا اعراض کول دی دَ ایمان نه او دَ انفاق فی سبیل الله نه او دَ ایمان بالتقدیر نه دے ټولو ته شامل دے .

۲۵ دَ دے ایت نه تر اخره دَ سورت پورے دویم باب دے خلاصه ئے دا ده چه په دے کښ ترغیب دے جهاد ته په طریقه دَ دعوت بالکتاب او په قتال دَ استعمال دَ حدید سره او دَ دواړو فائدے ذکر کړے دی بیا دلیل نقلی دے دَ نوح او ابراهیم او عیسیٰ علیهم السلام نه چه دَ دے ټولو دغه طریقه وه بیا زجر دے په بدعت دَ رهبانیت سره . بیا ترغیب دے کتابیانو ته په ایمان راوړلو په اخری رسول باندے په حصول دَ دوچنده اجر او په حصول دَ فضل دَ الله تعالیٰ سره .

نُوْحًا وَّاِبْرٰهِيْمَ وَجَعَلْنَا فِيْ ذُرِّيَّتِهِمَا

نوح علیه السلام او ابراهیم علیه السلام   او   ورکړل موږ   په   اولاد   دَ دوی کښې

په دے (رکوع ۲۵) کښې دَ انفاق ته روستو جهاد ته اشاره کوی او دا رنګ په دے کښې مدافعت دَ هغه کسانو مقصد دے چه هغوی یا مرون الناس بالبخل سره موصوف دی۔ بِالْبَيِّنٰتِ دا لفظ ښکاره احکام دَ عقیدے او دلیلونه او معجزاتو ته شامل دے وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ کتاب اسم جنس دے ډیرو کتابونو ته اشاره ده او مَعَهُمْ کښې اشاره ده چه په هر رسول باندے اګرچه کتاب نه وؤ نازل کړے شوے لیکن مخکنے کتاب په ورسره وؤ لکه تورات نازل کړے شوے وؤ په موسٰی علیه السّلام باندے لیکن دَ هغه نه روستو تر عیسٰی علیه السّلام پورے دغه کتاب نورو رسولانو سره وؤ۔ وَالْمِيْزَانَ دا عطف دَ صفت دے په صفت باندے یعنی هغه کتاب میزان وؤ دَ پاره دَ فرق دَ حق او باطل یا مراد دَ دے نه حکم دے په عدل سره او ابن کثیر وئیلے دی چه مراد په دے سره هغه دے چه صحیح عقلونه په هغے باندے شهادت کوی۔ یا مراد دَ دے نه هغه شرائع دی چه په سنت دَ انبیاؤ سره ښکاره شویدی۔

لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۔ حاصل دا چه رسولانو اول دعوت کوؤ خلقو ته په کتاب او په سنت سره دَ دے دَ پاره چه خلق په دین دَ توحید او دَ اسلام باندے پاخه اودریږی۔ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ مناسبت دَ مخکښں جملے سره دا دے چه اول خو دعوت دے په کتاب او سنت سره او وروستو قتال کول دی په استعمال دَ آلاتو دَ اوسپنے سره۔ دَ دے وجے نه اوله فائده دَ دے ئے په فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ سره ذکر کړه مراد ترینه آلات دَ جنګ جوړول دی په هره زمانه کښې چه څومره اسباب دَ جنګ دی نو دَ اوسپنے نه جوړیږی اودے ترتیب ته ابن کثیر هم په تفسیر کښې اشاره کړیده۔

فائده:۔ لفظ دَ انزال په اصل کښې په معنٰی دَ راکوځولو سره دے لیکن دلته مراد پیدا کول دی په آسمانی تدبیرونو سره ځکه چه دَ باراتو نو په ذریعه الله تعالٰی په زمکه او غرونو کښې معدنیات پیدا کوی او اوسپنه هم دَ معدنیاتو نه ده۔ او په کومو روایتونو کښې چه راغلی دی چه اوسپنه آدم علیه السلام دَ خپل ځان سره دَ آسمان نه راکوزه کړے وه نو قاسمی په (پاڼے په یل مخ)

النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ

پیغمبري او کتاب نو بعض د دوی نه هدایت موندونکي دي او ډیر

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ

د دوی نه پوره نافرمان دي بیا پرله پسې اولیږل مونږ د دوی نه روستو

بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

رسولان زمونږ او په دوی پسې اولیږلو مونږ عیسٰی ځوئے د مریم

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ

او ورکړو مونږ هغه ته انجیل او واچوله مونږ په زړونو

تفسیر کښې ذکر کړے دي چه دا دروغ او حدیث موضوعي دے. وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ په دے کښې ډیرو خیزونو ته اشاره ده چه په انساني ژوند کښې پکار ریږي تبر، ترخته، اره، چاړه، چاقو، پاله، نورے مشینرئے وغیره. وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ عطف دے په معنیٰ د فِيْهِ بَأْسٌ وَّمَنَافِعُ باندے تقدیر د عبارت داسے دے يَسْتَعْمِلُهُ النَّاسُ فِي الْحَرْبِ وَيَسْتَنْفِعُوْا بِهٖ وَلِيَعْلَمَ اه. یعني چه په اوسپنه سره جهاد او کړئ نو الله تعالیٰ به امداد او کړي. یا عطف دے په لِيَقُوْمَ النَّاسُ باندے. يَنْصُرُهٗ کښې اشاره ده جهاد کولو ته د پاره د توحید او د سنت د رسول ته.

بِالْغَيْبِ یعني الله تعالیٰ او رسولان ئې لیدلے نه دي او د هغوی د پاره جهاد کوي یا غیب په معنیٰ د اخلاص د زړه سره دے. اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ په دے کښې اشاره ده نصرت او مدد د الله تعالیٰ ته.

۲۶ د اجمال نه روستو تفصیل دے او دا دواړه ئې خاص ذکر کړل ځکه چه دعوت په طریقه د رد د مشرکانو سره او جهاد د وخت د نوح علیه السلام نه شورو دے او د دوی په اولاد کښې پیغمبران راغلي دي. یعني نوح علیه السلام دویم ابو البشر دے او ابراهیم علیه السلام خو ابو الانبیاء والرسل دے د دے وجے نه سورة عنکبوت ۲۷ کښې صرف د دۀ ذکر شوے دے.

فَمِنْهُمْ ضمیر ذریة ته راجع دے او په دے کښې اشاره ده چه دوی دعوت جاري او ساتلو لیکن بعضو کسانو د هغوی دعوت او منلو او بعضو انکار او کړو.

الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَرَهْبَانِيَّةَ

دَ هغه چا کښې چه دده تابعداران وو نرمي په يو بل باندے اورحم کول او په گوښه توب کښې کيناستل

ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ

چه نوے جوړه کړه دوی دا طريقه نه وه فرض کړے مونږ په دوی باندے مگر لټول

رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ

دَ رضا دَ الله تعالىٰ نو دوی لحاظ اونکړو دَ هغې پوره لحاظ دَ هغې

فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ

نو ورکړو مونږ هغه کسانو ته چه ايمان ئې راوړے وو دَ دوی نه ثواب دَ هغوی

وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او ډير دَ دوی نه وو پوره نافرمان . اے ايمان

۲۸ دا ايت هم دَ مخکښې تفصيل سره متعلق دے قَفَّيْنَا دا دَ قَفَا نه ماخوذ دے روستو والے په يو بل پسے باندے دلالت کوی. عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ اشاره ده چه دين دَ ټولو يو دے او هغې دين ته ټولو دعوت کوو او اخرى په ټولو کښې رزمونږ دَ نبي صلى الله عليه وسلم نه مخکښې) عيسىٰ عليه السّلام دے هغه هم دَ ابراهيم عليه السّلام په اولاد کښې دَ طرف دَ مور نه وو او دَ دے تخصيص ئې په دے وجے سره کړے دے چه دۀ دعوت او مجاهده په ډير محنت سره کړے وه.

وَجَعَلْنَا فِىْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَرَهْبَانِيَّةَ اه په دے کښې اشاره ده درے فريقو دَ نصارىٰ ته لکه چه حديث دَ ابن مسعود رضى الله عنه کښې راغلے دى حاصل دَ مضمون ئې دا دے چه روستو دَ رفع دَ عيسىٰ عليه السلام نه بنى اسرائيل دوه اوياء ډلے شول دَ هغوى نه درے فرقو نجات اوموندلو او بل روايت کښې دى چه په دوى باندے دا سے بادشاهان مقرر شول چه هغوى دَ دوى په دين کښې تحريف اوکړو نو دَ هغوى په مقابله کښې يو فرقے قتال شروع کړو تر دے پورے چه هغوى شهيدان شول (پاتے په بل مخ)

دويمے فرقے صرف دعوت او تبليغ شورو کړو نو هغوی ئے په آرو باندے اره کړل او په اور باندے او سيزل۔ دريمه فرقه غرونو او غارونو ته لاړل دَ خپل دين دَ حفاظت دَ پاره او دَ الله تعالیٰ بندګی ئے کوله۔

ابن کثير ويلے دی دا حديث اګرچه دَ داؤد بن المحبر راوی (چه وضاع دے) بے اعتباره دے ليکن دَ دے تقويت کړے شوے دے په بل سند سره چه ابويعلیٰ راوړے دے۔ نو معلومه شوه چه رأفة کښ اوله فرقه چه قتال کوونکے وه مراد ده او په رحمةً کښ دويمه فرقه چه دعوت کوؤنکی وؤ مراد دی او دريمه فرقه په رهبانيت سره مراد ده۔

وَرَهْبَانِيَّةً کښ دَ مفسرينو دوه قولونه دی اول قول دا چه په ما قبل باندے معطوف دے او دَ جعلنا دَ لاندے داخل دے بنا په دے باندے رهبانيت دَ هغوی دَ پاره جائز وؤ او دويم قول دا دے چه ورهبانيةً منصوب دے په طريقه دَ اِضمار علی شرط التفسير سره يعنی اِخْتَرَعُوا رَهْبَانِيَةً ابتدعوها نو بنا په دے قول رهبانيت په هغوی کښ هم جائز نه وؤ۔ اِبْتَدَعُوْهَا په دے کښ دوه توجيه دی اول دا چه رهبانيت که چرے په دوی کښ جائز وؤ نو دَ ابتداع نه مراد دَ هغے کيفيت او طريقه بدلول او مقصد بدلول دی او دې ته بدعتِ اضافيه ويلے کيږی دويمه توجيه دا ده چه رهبانيت په دوی کښ دَ اصل نه منع وؤ نو ابتداع نه ابتداع حقيقی مراد ده۔ اِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللهِ په دے استثناء کښ هم دوه احتماله دی اول احتمال دا دے چه استثناء متصله ده او دا په اوله توجيه باندے بنا ده يعنی رهبانيت په اصل کښ جائز وؤ او په دوی باندے فرض نه وؤ مګر صرف دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَ پاره يعنی رهبانيتِ مقيّده جائز وو۔ فَمَا رَعَوْهَا ضمير رهبانيت ته راجع دے يعنی دوی په رهبانيت کښ دَ الله تعالیٰ دَ رضا حاصلول پريخودو دَ هغے لحاظ ئے او نکړو او دَ دُنيا دَ حصول دَ پاره ئے ذريعه اوګرځوله دَ دے دَ پاره چه خلق دَ دوی مريدان شی او دَ هغوی نه هدايا (تحفے) نذرانے راجمع کوی او حق ورته بيا نوی بلکه هغوی دَ خپلے بندګئ په حيثيت سره ساتی - دويم احتمال دا چه استثناء منقطع ده او دا په دويمه توجيه باندے بناء ده يعنی چه رهبانيت دَ اصل نه ناجائز وؤ معنیٰ دا چه رهبانيت مونږ دوی لره نو وؤ جائز کړے

لیکن فرض کړے وه موږ په دوی باندے دَ الله تعالیٰ رضا حاصلول په طریقه دَ جهاد او دَ دعوت - فَمَا رَعَوْهَا ضمیر رضوان ته راجع دے په تاویل دَخصلت سره - الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ که رهبانیت جائز مراد دی نو الذین امنوا کښ دَ دے واړه فرقے داخل دی او كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ کښ هغه داخل دی چه رهبانیت ئے برباد کړو او دَ اخری رسول نه ئے انکار اوکړو اوکه رهبانیت ناجائز وی نو الذین امنوا نه اول دواړه فریق مراد دی او فاسقون ټول مبتدعین او منکرین مراد دی - دلته دوه ضروری فائدے دی .

اوله فائده په تحقیق دَ رهبانیت کښ - رهبانیت په لغت کښ ویره کولو ته ویلے کیږی لکه په دے قول کښ دَ اَضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ - او په اصطلاح دَ قرآن کښ دَ الله تعالیٰ نه ویره کول او دَ هغے ویرے دَ وجے دَ الله تعالیٰ دَ منهیاتو نه ځان ساتل - لکه په دے قول کښ وَ اِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ - او په عرف کښ دَ الله تعالیٰ دَ ویرے دَ وجے نه دَخپل دین دَ حفاظت دَ پاره غار ته یا صحرا ته تلل او دَ ټولو ذاتِ مباحه نه ځان ساتل او دَ الله تعالیٰ بندګی کول -
او په دے کښ دوه حالتونه دی یو حالت دَ ضرورتِ شرعی دَ وجے نه جُدائی اختیارول دی لکه چه فتنے ډیرے شی او جهاد او دعوت بالکل نشی کیدے او په خپل دین باندے ویره راشی نو په داسے وخت کښ دَ خلقو نه ډډه کول او صحرا یا غار ته تلل او دیته فرار للدین او هجرت ویلے کیدے شی لکه واقعه دَ اصحاب کهفو او دارنګ حدیث دَ ابو سعید خدری چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی چه نزدے ده چه داسے وخت به راشی چه غوره مال دَ مسلمان به ګډے بیزے وی او دَ بارانځایونو ته به ئے بوځی سرو نو دَ غرونو نه چه تښتی به کوی په خپل دین سره دَ فتنو نه (بخاری) -
دارنګ هغه حدیث چه دَ ټولو فرقو نه ډډه اوکړه اګرچه چک اولګوے په وینځ دَ یو ونے پورے - لیکن په دے باندے دَ رهبانیت اطلاق لغۃً یا مجازاً دے په شرع کښ دیته رهبانیت نه ویلے کیږی دارنګ غارِ حرا ته تلل دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکښ دَ قرآن شورو کیدلو او دَ نبوت نه - دویم حالت بغیرِ دَ ضرورتِ شرعیه نه دَ خلقو نه جدائی اختیارول او عبادت کول او په ځان باندے تکلیفونه او ریاضتونه تیرول دا زموږ په بیل مخ)

په شریعت کښ قطعًا منع دی لکه په حدیث دَ مسند احمد کښ راغلے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی دَ هر امت دَپاره رهبانیت دے او رهبانیت دَ امت زما جهاد فی سبیل الله دے دا حدیث ابن کثیر ذکر کړیدے.
او په شریعت دَ عیسٰی علیه السلام کښ دَ دے په باره کښ اختلاف دے.
یو قول دا دے چه دَ هغوی په شرع کښ دا جائز وو او دَ دے یو دلیل هغه توجیه ده چه دَ رهبانیت عطف دے په رأفةً ورحمةً باندے او دا بدعتِ حقیقیه نه دے. دویم دلیل هغه حدیث دَ ابن مسعود رضی الله عنه دے چه مخکښ موتږ ذکر کړے دے او په هغے کښ درے ډلے دَ نجات والو ذکر کړے دی یو پکښ رهبانیت والا دی او دَ دے قول په بنا سره ویلے شویدی چه په دے ایت کښ دَ نصارٰی قباحت په سبب دَ رهبانیت دَ وجے دَ بدعتِ اضافیه نه دے یعنی دَ رهبانیت کیفیت او طریقه او مقصد ئے بدل کړے دے. دویم قول دا دے چه رهبانیت دَ هغوی په دین کښ منع وو پشان دَ شریعت زمونږ او دَ دوی یو دلیل دا دے چه رهبانیةً په مخکښ باندے عطف نه دے بلکه ابتدعوا او ابتدعوا دَپاره مفعول دے او دا بدعتِ حقیقیه دے او دویم دلیل قول دَ ابن کثیر دے چه هغه ویلے دی چه دا ایت ذم دَ هغوی دے دَ دوؤ وجو نه یو په دے وجے سره چه په دین دَ الله تعالٰی کښ ابتداع دَ هغه څیز کړیده چه په هغے باندے امر دَ الله تعالٰی نیشته او دویم دا چه کم څیز چه دوی ګمان کوؤ چه دا قربت دے په هغے باندے قیام او نکړو او دَ هغے لحاظ ئے او نکړو.
دریم دلیل دا دے چه قاسمی دَ مسیحینُ نه نقل کړیدے او دَ هغوی دَ کتاب ریحانة النفوس نه چه رهبانیت په کتاب مقدس کښ نیشته او نه په دے باندے امر شرعی شته دا روستو خلقو دَ ځان وهم نه جوړ کړے دے (دا حاصل مضمون دَ هغه دے).
او رهبانیت په روستنی عرف کښ دا دے چه دَ خلقو نه کناره کشی اوکړی او نکاح هم په ځان حرام کړی او نور حلال طیبات هم حرام ګنړی تر دے پورے چه مونځ دَ جماعت نه کوی غسل هم نه کوی بعض ختنه هم نه کوی نشے کوی په غزلو سرودونو سره دَ روح غذا حاصلوی رقص کوی وغیره دا رهبانیت په هر دین کښ حرام قطعی دے. لیکن راهبانو نصارٰی او

دا رنګ صوفیاؤ او پیرانو دَ دے امت دا طریقه ایجاد کړه او په دے ذریعے سره دَ خلقو نه دنیا حاصلوی او دا هغه دی چه قرآن کریم کښ دَ دوی حالت ئے ذکر کړے دے إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ (سورة توبه ۳۴) او په دوی باندے رد دے په سورة مائده ۸۲ کښ۔

دویمه فائده:۔ په تحقیق دَ بدعت کښ۔ ابْتَدَعُوهَا دَ بدعت نه ماخوذ دے او دا لفظ عربی دے نو په لغت دَعرب کښ بدعت "پیدا کول دَ هر هغه څیز چه مخکښ ئے نمونه موجوده نه وی" که دنیوی څیز دے او که دینی وی، خه وی او که بدوی ذات وی او که طریقه وی او په دے معنیٰ سره په صفت دَ الله تعالیٰ کښ راغلے دے. بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ۔ او بدعت په اصطلاح دَ شریعت کښ پیدا کول دی په دین کښ دَ هر هغه څیز چه په دلیل شرعی سره دَ دین نه ثابت نه وی او دا تعریف ماخود دے دَ دے حدیث نه مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ نور عبارتونه دَ علماؤ ډیر دی په تعریف دَ بدعت کښ لیکن دا غوره دے ځکه چه دَ حدیث صحیح دَ الفاظو نه ثابت دے۔ بیا دغه څیز (پیدا کړے شوے په دین کښ) عام دے که عمل وی او که قول وی او که عقیده وی او که ذات وی او که کیفیت وی او که مقدار وی او که وخت وی۔ بیا دَ دے تعمیم په وجه سره بدعت دوه قسمه دے یو بدعت حقیقیه دویم بدعت اضافیه (ردَ دے پوره تحقیق سرهٔ دَ مسئلے دَ رهبانیت نه الشاطبی په کتاب الاعتصام ص۲۸۶ کښ ذکر کړے دے۔

بدعت حقیقیه هغه دے چه اصل دَ یو څیز دَ دین نه او ګڼړلے شی او حال دا چه هغه دین نه وی لکه رهبانیت په دین ز مونږ کښ او بنا په یو قول سره په دین دَ عیسیٰ علیه السلام کښ او لکه رقص سرودونه دوړه باجه وهل دا دَ دین نه نهٔ دے بلکه معصیت دے لیکن بعض متصوفه ورته دین او ثواب وئیلے دے۔ او میلاد کښ خوشحالی مناول او عرسونه کول.

او بدعت اضافیه هغه دے چه اصل ئے دَ دین نه وی لیکن کیفیت او طریقه او مقدار او وخت دَ هغے دَ ځان نه جوړ کړے شی او هغے ته ثواب اُوئیلے شی لکه رهبانیت مخترعه په دین دَ عیسیٰ السلام کښ (پاتے به بیل مخ)

اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ

والو ویره کوئ دَ الله تعالیٰ نه او ایمان راوړئ په رسول دَ هغه بانديے نو در به کړي تاسو ته

كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا

دوه اندازے دَ رحمت خپل نه او پیدا به کړي تاسو لره رڼا

تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾

چه ګرځئ به تاسو په هغے سره او بخنه به او کړي تاسو ته او الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔

په دویم قول سره - او نور مثالونه دَ دے په دے ملت کښ ډیر دي لکه دُعا کانے په هیئتِ اجتماعیه سره په فرض او سنت مونځ پسے یا په جنازو پسے - ختم دَ قرآن دَ پاره هیئتِ اجتماعیه جوړول - صدقاتو دَ پاره دَ وخت او ورځو تعیین کول لکه دَ جمعے شپه ، خلویښتمه یا کال (کلیزه) وغیره -

دیته بدعتِ اضافیه دَ دے وجے نه ویلے کیږي چه دَ اصل دَ پاره دلیل شرعي وي لیکن دَ هیئت او کیفیت دَ پاره دلیل نیشته او دَ اصل په اثبات سره دَ کیفیت اثبات نه راځي بلکه دَ هغے دَ پاره مستقل دلیل ضروري وي لکه دُعا او درود لوستل په شرعے کښ ثابت دي لیکن په هغے کښ هیئت اجتماعیه جوړول دَ ثواب دَ پاره په شرع کښ ثابت نه دي دَ دے وجے نه دَ غه هیئت اجتماعیه ته بدعت اِضافیه ویلے کیږي دَ دے وجے نه ابن مسعود رضی الله عنه په هغه چا بانديے رد کړے وو او هغه کارته ئے بدعت ویلے وُو چا چه دَ ذکر کولو خاص هیئت او حلقه جوړه کړے وه لکه اعتصام ص۳۲/۱ کښ شامی ص۲۵/۵ کښ مصنف عبد الرزاق ص۲۲۲/۳ کښ لیکلے دي -

۲۸ هرکله چه حال دَ کتابیانو مخکنتوئے ذکر کړو په دے قول سره چه وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ نو په دے ایت کښ هغوی ته دعوت یالرسول ورکوی دَ پاره دَ دے چه دَ فسق نه بچ شي - نو یٰا اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا نه مراد زاړه مؤمنان دي چه په موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام باندے ایمان راوړے دے او په زمانه دَ اخري رسول کښ موجود وي او دا قول دَ ابن عباس او دَ اکثر سلف صالحینو دے په قرینه دَ سورة قصص ۵۴ سره او حدیث صحیح سره چه په هغے کښ راغلي دي چه درے کسانو ته دوه اجرونه ورکیدیشي نو یو په هغے

لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَلَّا يَقْدِرُونَ

دَ دے دَپاره چه پوهه نشی کتاب والا چه دوی قدرت نه مومی

عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَأَنَّ الْفَضْلَ

په هیڅ خیز باندے دَ فضل دَ الله تعالیٰ نه او یقیناً فضل خو

بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَاءُ ؕ وَاللّٰهُ

په لاس دَ الله تعالیٰ کښ دے ورکوی ئے هغه چاته چه اوغواړی او الله تعالیٰ

کښ کتابی دے چه په خپل نبی ئے ایمان راوړے وی او په آخری نبی صلی الله علیه وسلّم باندے هم راوړی ۔ اتَّقُوا اللهَ مراد دَ دے نه دَ عقیدے دَ شرك او تثلیث او تشبیه نه ځان ساتل دی کوم چه یهودیانو او نصاریٰ دُ ځان نه جوړ کړے دی وَآمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ دا اضافت دَ عهد دَپاره دے معهود په دے سره آخری رسول صلی الله علیه وسلّم دے ۔

يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ کفل په اصل کښ هغه زړے شړئے ته وئیلے شی چه دَ اوښ په شا باندے غوړوی دَ دَ دَپاره چه بندپرے دَ سور لئے نه او نه غورځیږی او بیا وئیلے کیږی برخے او حصے دَ ثواب ته چه انسان لره دَ بد مختئے نه بچ ساتی ۔ مراد تری نه دوچند ثواب دے ۔

(سوال) دا خو دوه کارونه دی ایمان په مخکښ نبی باندے او ایمان په آخری نبی باندے او په دوه نیک عملونو خو ضرور دوه ثوابونه ملاویږی نو دَ دوی خصوصیت په څه وجے سره دے ؟

(جواب) په دے کښ په هر ایمان باندے مستقل دوه ثوابونه دی لیکن په دے شرط سره چه دویم ایمان ورسره پیوست شی نو گویا که په دواړو ایمانونو باندے خلور ثوابونه شول ۔ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا مراد دَ دینه هغه نور دے چه په قرآن کریم سره حاصلیږی په دُنیا کښ په علوموقرآنیو سره او په آخرت کښ هغه دے چه په سورت کښ دوه کرته ذکر شو په ۱۲ ـ ۱۹ کښ ۔ تَمْشُوْنَ بِهٖ مشی نه مراد په دنیا کښ ژوند تیرول موافق دَ قرآن او سنت سره دی او په مشی کښ اشاره ده بشارت دنیویه ته چه ستاسو دین به غالب وی او شهرت او عزت به مو هم وی او دا لفظ په سورة انعام ۱۲۲ کښ هم دی ۔ او مثال دَ دے نور ئے په سورة نور ۳۵ کښ هم ذکر کړے دے ۔

ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٩﴾

خاوند دَ فضل لوئے دے ۔

س۲۹ په دے ایت کښ درے توجیهات دی اوله دا متعلق دَ دے دَ مضمون ایت مخکښ سره هغه دا چه که چرے تاسو ایمان په دے رسول باندے راوړو نو هغه درے فائدے به درکړی (چه مخکښ ذکر شوے) دَ دے دَ پاره چه پوهه شی هغه کتابیان چه ایمان ئے نه دے راوړے چه دوی قادر نه دی په هیڅ فضل دَ الله تعالیٰ یعنی دغه تیر شوے فائدے . بنا په دے توجیه باندے لِئَلَّا کښ حرف دَ لَا زیاتی دے او دَ فضل الله نه مراد هغه ثوابونه دی چه مخکښ ایت کښ ذکر شویدی او دَ اهل الکتاب نه مراد هغه کسان دی چه ایمان په اخری رسول باندے نه راوړی والا یقدرون ضمیر راجع دے دغه کتابیانو ته . دویمه توجیه دا ده چه دا متعلق دے په مقدّر سره چه اَرْسَلْنَا هٰذَا الرَّسُوْلَ فِي الْقَرْبِ مِنْ غَيْرِ اَهْلِ الْكِتَابِ . او لا زیاتی نه دے او ضمیر دَ لا یقدرون نبی صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو ته راجع دے او دَ فضل نه مراد رسالت او فضیلت دے او نفی چه په نفی داخله شی نو په معنیٰ کښ اثبات پیدا کوی . نو معنیٰ دا شوه چه (دا رسول مو په غیر دَ اهل کتابو کښ) را اولیږلو دَ پاره دَ دے چه پوهه شی کتابیان ټول چه دا نبی او امت دَ ده وس لری په فضل دَ الله تعالیٰ باندے چه رسالت او فضیلت دے . دریمه توجیه دا ده چه متعلق دے په مقدّر پورے چه دَعَوْنَا اَهْلَ الْكِتَابِ لِلْاِيْمَانِ بِهٰذَا الرَّسُوْلِ . او لا زیاتی نه دے او ضمیر دَ لا یقدرون کتابیانو ته راجع دے خو دَ فضل نه مراد توفیق دَ جهاد او قتال فی سبیل الله دے او لا په لا باندے داخل شویدے نو ثبوت فائده کوی او په دیکښ مقصد رد دے په کتابیانو نصاریٰ باندے نو هغوی رهبانیت اختیار کولو دَ پاره دا بهانه کوله چه اوس خو رسول نیشته او ویل به ئے مشرکینِ عرب ته چه هر کله اخری رسول را اولیږلے شی نو مونږ به دَ هغه په اقتدا کښ ستاسو سره جهاد او قتال کوؤ (لکه چه په تفسیر دَ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا کښ تیر شویدی) نو معنیٰ دا شوه چه (مونږ تاسو له دعوت درکړو چه په دے اخری رسول باندے ایمان راوړئے) دَ پاره دَ دے چه خبر شی کتابیان (راهبان) چه دوی وَس او طاقت او منډ لو په جهاد فی سبیل الله کولو باندے او دا توفیق دَ الله تعالیٰ په لاس کښ دے ، ورکوی چه

ختم شو تفسیر دَ سورة الحدید په توفیق او فضل دَ الله تعالیٰ سره .

سُورَةُ الْمُجَادِلَةِ ۵۸ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۵	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۲۲ رُكُوْعَاتُهَا ۳

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ

یقینًا داوریدلہ اللہ تعالیٰ ویناٍ دَهغه زنانه چه بحث ئے کوؤ تا سره په

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورۃ المجادلہ (په زیر دَ دال او په زور دَ دال دواړه وسره) اوسورۃ الظهار اوسورۃ قد سمع هم ورته ویلے کیږی۔

ربط دَ دے سورت دَ ما قبل سره په یو څو طریقو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورت کښ ترغیب وؤ انفاق او جهاد کولو ته دَ پاره دَ اصلاح دَ عالم نو په دے سورت کښ زجر دے په فساد کوؤنکو باندے۔ دویمه طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ مختصر ذکر وؤ دَ منافقینو سرهٔ دَ تخویف دَ هغوی ته نو په دے سورۃ کښ تفصیلی خبائث دَ هغوی ذکر کوی۔ دریمه طریقه په هغه سورت کښ رد وؤ په بدعت دَ کتابیانو باندے نو په دے سورت کښ رد دے په بدعت دَ عوامو دَ جاهلیت باندے چه هغه تحریم دَ ښځے دے په سبب دَ ظهار سره۔

دعوی دَ سورت زجر او منع ده دَ طریقو دَ فساد چه هغه ئے شپږ ذکر کړے دی۔ ۱ تحریم په ظهار سره، ۲ محادّه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول سره، ۳ نجوی په گناه او عدوان سره، ۴ تحیّه کول په غیر شرعی طریقے سره، ۵ قسم کول په دروغه سره، ۶ صد عن سبیل الله۔ او ماخذ دَ دعوے په ۸ او ۲۰ کښ دے۔ او په دے سورت کښ رد دے په شرك فی العلم باندے۔ او اسماء حسنیٰ ئے یوؤلس ذکر کړے دی۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۳ پورے دے۔ پدیکښ سبب دَ رد په تحریم بالظهار باندے ذکر کوی۔ بیا رد په تحریم بالظهار او دَ هغے کفّاره ذکر کوی۔ بیا رد دے په محادّه کوؤنکو باندے سرهٔ دَ تخویف نه۔ بیا ئے ذکر کړیدے عموم (پاتے په بل مخ)

زَوْجِهَا وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ۖ وَاللّٰهُ يَسْمَعُ

دَ خاوند خپل كښې او گيله ئې كوله الله تعالىٰ ته (دَ خاوند نه) او الله تعالىٰ اوريدلے

تَحَاوُرَكُمَا ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ ①

خبرے اترے ستاسو يقيناً الله تعالىٰ هر څه اوري هر څه وينى ۔

دَعِلم دَ الله تعالىٰ دَپاره دَ تخويف دَ نجوىٰ كوونكو او ردكوى په نجوىٰ غير شرعى باندے او په تحيه غير شرعى باندے چه ټول اسباب دَ فساد دى بيا ذكركوى درے قوانين دَپاره دَ اصلاح دَ ايمان والو چه هغه متعلق دى دَ نجوىٰ سره ۔ اول قانون فرق كول په مقصد دَ نجوىٰ كښې ۔ دويم ادب دَ مجلس دَ نجوىٰ په اكرام دَ ملگرو سره دريم شرط دَ نجوىٰ په تصدق مالى سره دَپاره دَ اخلاص او په هغې كښې تخفيف ۔

تفسير سا قَدْ سَمِعَ ۔ سمع صفت دَ الله تعالىٰ دے په معنىٰ ظاهرى سره او تشبيه او تمثيل او تكييف او تاويل ته هيڅ حاجت نه لرى ۔ او دلته سمع مستلزم دَ قبوليت مراد ده لكه سمع الله لمن حمده كښې ۔ امام بخارىؒ دَ عائشه رضى الله عنها قول ذكركريدے چه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ وَسِعَ سَمْعُهُ الْاَصْوَاتَ لَقَدْ جَاءَتِ الْمُجَادِلَةُ تَشْكُوْ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا فِيْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ مَا اَسْمَعُ مَا تَقُوْلُ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى قَدْ سَمِعَ الْآيَةَ ۔

بل روايت كښې دى چه دے اُويل اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَشْكُوْ اِلَيْكَ ۔

قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ زَوْجِهَا نوم دَ دے زنا نه خوله بنت ثعلبه دے او خوله بنت مالك بن ثعلبه ورته هم ويلے كيږى او دَ خاوند نوم ئې اَوْسُ بن صَامِت رضى الله عنه وؤ او جدال ئې دَ نبى صلى الله عليه وسلم سره په سوال وجواب سره ووُ چه دے اُويل خاوند ما سره ظهار كړے دے نو رسول الله صلى الله عليه وسلم جواب وركړو چه ماته په دے باره كښې هيڅ وحى نه ده راغلے بيا هغې اويل چه تا ته دَ هرڅيز په باره كښې وحى كيږى نو په دے باره كښې درته ولے وحى نه ده شوے هغه ورته اُويل چه دغه خبره ده چه ما درته اويل ۔

وَتَشْتَكِيْٓ اِلَى اللّٰهِ اشتكاء نه مراد خپل غم ښكاره كول دى لكه چه

اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ

هغه کسان چه ظهار کوی ستاسو نه د زنانو خپلو سره

مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ؕ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ اِلَّا الّٰٓئِیْ

نه دی دوی مائندے د هغوی نه دی د دوی مائندے مگر هغه دی

وَلَدْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ

چه زیگولے دی دوی لره - او یقیناً دوی ضرور وائی بد کار د

الْقَوْلِ وَزُوْرًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝۲

وینا نه او دروغ او یقیناً الله تعالٰی ضرور معافی کوونکے بخنه کوونکے دے۔

یعقوب علیه السلام فرمائیلی وو انما اشکوا بثی وحزنی الی الله سورۃ یوسف ۸۶
دا رنگ مخکښ یو روایت کښ ذکر شول چه دے زنانه هم ویلی وو اللّٰهُمَّ اشکوا الیک
نو معلومه شوه چه د بخاری په روایت کښ تشکوا الی رسول الله مجازاً ویلی شوی دی
مراد د هغے نه جدال کول دی د نبی صلی الله علیه وسلم سره۔
والله یسمع تحاورکما دا قرینه ده چه مراد د تجادلک نه محاوره کول دی جگړه کول
مراد نه دی. لیکن هر کله چه د زنانه د طرف نه په لهجه کښ سختی ده د وجے د
خفگان د هغے نه د دے وجے نه هغے ته جدال اُویلے شو۔
۲ په دیکښ رد دے په رسم د جاهلیت باندے او هغه سبب د فساد او د تفرق
وو هغه دا چه چا به خپلے ښځے ته اُویل چه ته په ما باندے زما د مور د شا پشان یے
نو هغه به دوی پشان د مور همیشه حرامه گنړله او طلاق ایدی به یے گنړلو او
رد یے په درے طریقو سره کړے یے یو دا چه اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ الخ دویم مُنْكَرًا مِّنَ
الْقَوْلِ ، دریم زُوْرًا - یُظٰهِرُوْنَ دا د ظهار نه ماخوذ دے او ظهار د ظهر نه دے
ظهر په اصل کښ (ملا رشا) ته ویلے شی او دا کنایه وی د سورلئ نه او د سورلئ
نه مراد جماع کول وو - او د دے الفاظ اتفاقیه دا وی چه اُوائی ښځے ته اَنْتِ
عَلَیَّ کَظَهْرِ اُمِّیْ او دا رنگ د مور په ځائے چه نیا ذکر کړی - او که چرے لور یا خور
یا نور محرومانو سره تشبیه ورکړی نو په هغے کښ د اهل علم اختلاف دے
ابن کثیر ویلے دی چه صحیح دا ده چه په هغے سره هم ظهار (باقی په بل مخ)

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ

او هغه کسان چه ظهار کوي د زنانو خپلو سره بيا

يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ

واپس کيږي (راګرځي) هغې (خبرې) ته چه دوی ویلې دي نو آزادول د مرئ دي

قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ

مخکښې د يو ځائے کيدلو د دوی نه دا وعظ درکيدے شي تاسو ته

بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۳ فَمَنْ لَّمْ

پدے سره او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے خبردارے دے. نو څوک چه نه

لازميږي مِنْكُمْ دا لفظ دليل دے چه ظهار صرف د سړي حق دے پشان د طلاق، او هغه قول صحيح نه دے چه څوک وائي چه د ښځے د جانب نه هم ظهار کيدے شي. مِنْ نِّسَآئِكُمْ مراد تربنه زوجات دي نو دا دليل دے چه د خپلے وينځے سره ظهار نشي کيدے. منكرا من القول يعنى دا شرعًا ناجائز دے او اهل عقل هم بد ګڼړي وَزُوْرًا يعنی دحقيقت (واقع) نه مخالف دے ځکه دا چه جمله خبريه شي نو ښځه خو مور نه ده او که جمله انشائيه شي نو ښځه مستقبل کښې هم د خاوند د پاره مور نشي کيدے. وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ، عفو په مقابل د منکر او غفور په مقابل د زور کښې دے په دے شرط سره چه کفاره ورکړي او توبه اوباسي.

۳ پدے ايت کښې تفصيل د کفارے د ظهار دے يعنی په ظهار سره ابدي تحريم نه راځي بلکه کفاره فقط لازميږي.

ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا پدے کښې احتمالات مفسرينو ليکلے دي اول دا چه ذدے لفظ تکرار اوکړي دا عود دے دويم دا چه جاهليت کښې ئے کړے وي او بيا ئے په اسلام کښې اوکړي. دريم دا چه اراده د جماع اوکړي د پاره د تحليل او مراد د لِمَا قَالُوْا نه لِنَقْضِ ما قالوا دے يا په عبارت کښې تقدير دے يعنی يَعُوْدُوْنَ لِتَحْلِيْلِ مَا حَرَّمُوْا. څلورم دا چه عود دا دے چه دومره زمانه ئے روستو د ظهار نه اوساتي چه طلاق پکښې ورکيدے شي ليکن طلاق ورنکړي.

يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ

موږ روس د سپ ازادولو) نو روژے نیول دی دوه میاشتے پسے وله پسے مخکښ

قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ

د یو ځائے کیدلو د دواړو نه نو څوک چه وس نه لری ر د روژو نیولو)

فَاِطْعَامُ سِتِّيْنَ مِسْكِيْنًا ۚ ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا

نو خوراک ورکول دی شپیتهٔ مسکینانو ته دا د دے دپاره چه ایمان راؤړئے تاسو

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ۚ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۚ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

په الله تعالیٰ او په رسول د هغه باندے او دا پولے د الله تعالیٰ دی او خاص کافرانو لره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٤﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ

عذاب درد ناک دے . یقیناً هغه کسان چه خلاف کوی د پولو د الله تعالیٰ

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا مراد د مس نه جماع ده او قبل اولمس په دے سره هم پدیکښ داخل دی . لیکن که چرے جماع وغیره ئے د کفارے نه وړاندے کړے وی نو صحیح دا ده چه استغفار د غواړی او کفاره په یوه وی.
تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ای وعظ زجر او منع ته و یلے کیږی یعنی کفاره کښ مقصد زجرهم دے او مغفرت هم دے .
سئلہ کفاره په دے ترتیب سره ضروری ده اول تحریر د رقبے چه په هغے باندے قدرت نه وی نو روژے دوه میاشتے او چه د هغے وس نه وی نو طعام ورکول شپیته مسکینانو ته . تفصیلی مسائل د دے تفسیر قرطبی کښ او دا رنګ په کتابونو د محدثینو او فقهاؤ کښ ذکر دی .
فائده :- د تحریر رقبه سره فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ او د صیام سره ئے فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ ذکر کړے دے ځکه وجدان اکثر د مالی قوت سره ذکر کیږی لکه سورة طلاق سئله او استطاعت اکثر ذکر کیږی په بدنی طاقت کښ .
ذٰلِكَ لِتُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ . کفاره ورکول په دے ترتیب سره . او دا رنګ د ظهار د قول نه ځان بچ کول . او د وخت د کفارے ر پاتے په بل مخ)

وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ

او دَ رسول دَ هغه نه ذليل کړے شويدی لکه چه ذليل کړے شويدی هغه کسان چه

قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

دَ دوی نه مخکښ وو او يقيناً نازل کړی دی موږ ايا تونه واضح او خاص کافرانو لره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۚ﴿۵﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ

عذاب رسوا کوونکے دے. په هغه ورځ چه راپورته به کړی دوی لره الله تعالیٰ

پورے ځان دَ مساس (جماع) نه ساتل دا قول يُ ذکر کړه په تعبير دَ ايمان سره نو معلومه شوه چه اعمال هم ايمان دے. وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ حدا هغه وی چه تعيين يُ کړے شوی وی او دَ هغے دَ وجے نه زياتے او کمے کول په هغے کښ منع وی نو احکامو دَ الله تعالیٰ کښ هم زياتے کول په ابتداع سره او کمے کول په فسق سره حرام دی.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ يعنی څوک چه دَ حدودو دَ الله تعالیٰ نه انکار کوی نو هغه کافر حقيقی دے او څوک چه انکار نه کوی ليکن په هغے باندے عمل نه کوی نو کافر حکمی دے په دے لفظ کښ دواړو مرتبو دَ کفر ته اشاره ده.

ف دَ حدودو دَ ذکر نه روستو مخالفت کوونکی دَ حدودو ته تخويف ورکوی. يُحَآدُّوْنَ محادّه مخالفت کول دَ حدودو شرعيه او دَ ځان نه حدود مقرر کولو ته ويلے کيږی او حدود لفظ عام دے هغه سزاګانو ته شامل دے چه شرع مقرر کړيدی لکه حد دَ زِنا په شلُ دورو وهلو يا په رجم کولو او حد دَ سرقے (غلا) په لاس پريکولو او حد دَ قذف (تهمت دَ زنا کارئ) په اتيا دورو وهلو او قصاص او دا رنګ شامل دے ټولو احکامو ته چه په کتاب الله او په صحيح حديث سره ثابت وی. مفسر آلوسی په روح المعانی کښ تفصيلی بحث ليکلے دے چه دَ هغے حاصل دا دے چه په دے ايت کښ سخت وعيد دے بادشاهان او اُمراء سوء لره چه مخالف دَ حدود شرعيو نه دَ ځان نه احکام مقرره وی او هغے ته دَ قانون نوم ورکوی. بيا يُ ويلے دی چه هر کله دَ قانون او شرعے په مينځ کښ مقابله راشی نو هغه څوک چه قانون غوره ګڼړی نو هغه کافر دے ليکن په دے شرط سره چه قانون نه خائسته وا ئي او دَ

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۭ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ

ټول | نو خبر به ورکړي دوی لره | په عملونو د دوی | راګیر کړي دي هغه الله تعالیٰ

حکمت سره موافق او فائده مند ګنړی او امر شرعي ته بدګوری او وائي دا د انسانی مصلحت سره موافق نه دے. هاں هغه امور سیاسیه انتظامیه د تعزیرات یا د فوجی نظام باره کښ چه اصحاب الراي ئې جوړوی او د شریعت د اصولو سره ئې مصادمة (ټکراؤ) نه وی یا صرف د فقهي اجتهادی اصولو نه مخالف وی نو هغه جائز دی. په دے باب کښ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله کتاب السیاست الشرعیه کتل پکار دی.

فائده:- محادة اکثر په باره د منافقینو کښ ذکر کیږی لکه سورة توبه ۲۳ محکه چه په دے کښ مخالفت کول دی لیکن په پټه باندے او مشاقه اکثر په باره د تښکاره کفر کوؤنکو کښ ذکر کیږی لکه سورة حشر ۴ کښ او سورة انفال ۱۳ کښ- او مبتدعین هم د دے ایت په مصداق کښ داخل دی محکه چه مبتدع هم وخت یا کیفیت او مقدار د عبادات د خپل ځان نه داسے جوړوی چه په شریعت کښ د هغے ثبوت نه وی. کُبِتُوْا اه کبت په معنیٰ د ذلت او د شرمندګئ او د هلاکت او د لعنت او پرځے غورځیدلو راځی. او دا جمله خبریه ده په معنیٰ د مستقبل سره یا جمله دُعائیه ده په طریقه د تعلیم بندګانو ته. کَمَا کُبِتَ الَّذِیْنَ اه مراد د دے نه هغه یهودیان دی چه د هغوی د ذلیل کیدلو ذکر سورة بقره او سورة نساء کښ تیر شوے دے او سورة حشر کښ هم راځی.

وَقَدْ اَنْزَلْنَا اٰیٰتٍ بَیِّنٰتٍ مراد د دے نه احکام او حدود الٰهیه دی چه محادین د هغے مخالفت کوی.

وَلِلْکٰفِرِیْنَ عَذَابٌ مُّهِیْنٌ تیرشوی ایت کښ الکافرین نه مراد منکرین د حکم شرعی د ظهار وؤ او دلته مراد ترینه منکرین د حدود الله عمومًا دی او په دے ایت کښ ذلت دنیویه د هغوی ئې ذکر کړے دے نو د هغے په مناسبت سره عذاب مهین ذکر کړے شو.

وَنَسُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدٌ ۞ ⑥

او دوی هیر کړیدی او الله تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر دے.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ یَعْلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ

آیا ته نه ګورے چه یقینًا الله تعالیٰ عالم دے په هغه څیزونو چه په اسمانونو کښ دی

وَمَا فِی الْاَرْضِ ۭ مَا یَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰی

او په هغه څیزونو چه په زمکه کښ دی نه کیږی هیڅ جرګه

ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ

د دریے کسانو مګر الله تعالیٰ څلورم د هغے دے او نه د پنځه کسانو مګر هغه ئے

سَادِسُهُمْ وَلَاۤ اَدْنٰی مِنْ ذٰلِكَ وَلَاۤ اَكْثَرَ

شپږم دے او نه کم د دے نه او نه زیات

اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَیْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ یُنَبِّئُهُمْ

مګر هغه د دوی سره وی هر ځائے چه دوی وی بیا به خبر ورکړی دوی له

سے دا هم تخویف کښ داخل دے فَیُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا اشاره ده چه څا دیتو اګر چه په دُنیا کښ مخالفت پټ کوؤ لیکن په ورځ د قیامت به ئے الله تعالیٰ ښکاره کړی۔ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ اه دا دلیل د ینبئهم دے احصاء په معنیٰ د شماره کښ راګیرلو دے چه یو ترِیته هم پاتے نشی۔

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ شَهِیْدٌ د مشاهدے نه ماخوذ دے په معنیٰ د نظر کوؤنکی یا د شهود نه ماخوذ دے په معنیٰ د حضور او د علم یعنی حاضر ناظر او عالم دے۔

بِمَا عَمِلُوا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

په هغه عملونو چه دوی کړیدی په ورځ دَ قیامت یقیناً الله تعالیٰ په هر خیز باندے

عَلِيْمٌ ۞ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى

پوهه دے۔ ایا ته نه ګورے هغه کسانو ته چه منع کړے شویدی دَ جرګو کولو نه

ـ دا تائید دے دَ ماقبل (وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ) او تنبیه ده چه نجویٰ کولو کښې دَ الله تعالیٰ نه ویره کوئے یعنی په ګناه سره جرګے مکوئے الله تعالیٰ تاسو باندے عالم دے۔ په دے ایت کښې په اوله جمله کښې عمومی علم دَ الله تعالیٰ ئے بیان کړو په اعتبار دَ مکانونو سره یعنی علم دَ الله تعالیٰ په یو مکان پورے خاص نه دے او په دویمه جمله کښې عموم دَ علم دَ الله تعالیٰ ذکر کوی په اعتبار دَ شمار دَ خلقو سره په وخت دَ جرګه کولو کښې۔ او په دریمه جمله کښې تنبیه ده په جـزا ورکولو سره په ورځ دَ قیامت کښې او په څلورمه جمله کښې عموم دَ صفت دَ الله تعالیٰ دے هر خیز ته که مکان وی که زمان وی که عدد وی که قول وی او که عمل وی که ماضی وی او که حال وی یا مستقبل وی وغیره۔

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى مَا نافیه دے۔ يَكُوْنُ دا کان مَا ته په معنیٰ دَ وجود دے۔ مِنْ نَّجْوٰى مِنْ دَ تعمیم دَ نفی دَ پاره دے نَجْوٰى مصدر دے جرګه کولو ته وئیلے کیږی۔ او مضاف دے ثَلٰثَةٍ ته یا مضاف محذوف دے یعنی اهل نجویٰ او ثلٰثة صفت دے او نجویٰ او سِر کښې یو فرق دے چه سِرّ پټ راز ساتل دَ ځان سره او نجویٰ مشوره کول دَ بل چا سره په پټه باندے دَ نورو خلقو نه۔ بل فرق دا دے چه سِر دَ دوه کسانو په مینځ کښې او نجویٰ دَ دوؤ نه دَ ډیرو کسانو په مینځ کښې کیدے شی۔

ثَلٰثَةٍ او خَمْسَةٍ تخصیص ئے دَ دے وجے نه او کړو چه اکثر وخت جرګه کښې دوه طرفونه وی او یو یکښې فیصله کوؤنکی یکار وی نو دَ هغے ادنیٰ عدد درے شول او ورپسے پنځه شول او کله کم وی او کله زیات وی په سبب دَ ضرورت سره نو هغه ئے په وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ سره ذکر کړو او بله وجه دا ده چه طاق عدد وتر دے په نسبت دَ زوج سره۔

اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ اه ثَالِثُهُمْ ئے نه دے وئیلے اشاره ده (ریاتے په بل مخ)

ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنٰجَوْنَ

بیا راګرځي هغه کارته چه منع شوی دی دَ هغې نه او جرګې کوی

بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ ؗ

په ګناه او ظلم او په نافرمانئ دَ رسول سره

وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ ۙ

او هر کله چه دوی تاته راشی نو سلام کوی تاته په هغه طریقه چه سلام نه دے خودلے په هغې سره الله تعالیٰ

وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ

او دوی وائي په خپلو زړونو کښ ولے سزا نه راکوی مونږ ته الله تعالیٰ

بِمَا نَقُوْلُ ؕ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ

دَ هغه چه مونږ وایو . پوره دے دوی لره جهنم ورننوځي به دوی هغې ته

فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝۸ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

نو بد ځائے د ورتللو دے - اے ایمان والو

چه الله تعالیٰ دَ مخلوق دَ جنس نه نه دے بلکه دَ دوی نه غیر دے لکه څلورم چه دَ دریو نه غیروی او مراد دَ دے نه حلول کښ واقع کیدل نه دی بلکه معیت مراد دے لکه چه وړیسے مَعَهُمْ ئې ذکر کړے دے او پس دے ذکر کولو کښ اشاره ده چه په جرګه دَ ثلاثه کښ (مثلاً) دوه تنه خبرے کوی او دریم یواځے پاتے شی نو الله تعالیٰ هغه ته تسلی ورکوی چه ځه تا سره ملګرے یم - او تفصیل دَ معیت په تفسیر دَ سورة حدید کښ تیر شوے دے او دَ دے په تفسیر کښ ابن جریر لیکلی دی چه ضحاکؒ ویلی دی چه الله تعالیٰ دَ عرش دَ پاسه دے او علم ئې دَ مخلوق سره وی په هر ځائے کښ دوی موجود وی او ابن کثیرؒ ویلی دی اجماع ده په دے خبره باندے چه مراد پدے ایت سره معیّت دَ علم دَ الله تعالیٰ دے او پدیکښ شک نیشته او سمع دَ الله تعالیٰ سره دَ علم نه محیط ده په دوی باندے او بصر دَ هغه نافذ دے په ټول مخلوق کښ. او امام احمدؒ ویلی دی چه دا ایت ئې په علم سره شورو کړیدے او په علم سره ئې ختم کړیدے.

ف هر کله چه تیر شوی ایت کښ تنبیه ذکر کړه چه جرګے کولو کښ الله تعالیٰ حاضر ناظر

إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

هر کله چه جرګې کوئ تاسو نو جرګې مه کوئ په ګناه او ظلم سره

وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ

او په نافرمانئ د رسول سره او جرګې کوئ په نیکئ کولو

اوګنړئ یعنی ناجائز جرګې مه کوئ نو اوس په دې کښې زجر دے په څلورو کارونو د مفسدانو سره. اول عود نجوی منهی عنه ته. دویم تناجی د پاره ناجائز کارونو. دریم سلام کول خلاف د سنت ته څلورم ځان د ګناه او د عذاب نه پاک ګنړل. او دا کارونه منافقانو یهودیانو فاسقانو کافرانو ټولو کښې موجود دي نو ایت ټولو ته شامل دے نُهُوا عَنِ النَّجْوٰی دا نهی په سورة نساء ۱۱۴ کښې هم ده او دا رنګ ابن کثیر حدیث ذکر کړے دے چه په هغې کښې نهی د نجوی نه موجود ده او النجوی کښې الف لام عهدی دی یعنی نجوی د معصیت او د مؤمنانو د خفه کولو د پاره.

بِالْإِثْمِ مراد د دے نه هر هغه ګناه ده چه د حقوق الله سره تعلق لري لکه کفر، شرک، دروغ ویل او بدکاري وغیره.

وَالْعُدْوَانِ هغه ګناه ده چه حقوق د بندګانو سره تعلق لري لکه ظلم کول، بهتان تړل، غیبت کول، مال د غیر غصب کول وغیره.

وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ هر هغه ګناه ده چه حق د پیغمبر سره تعلق لري لکه د هغه د سنت نه مخالفت کول، د هغه بے ادبي کول، بدعات او رسمونه رواجول کول.

حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ دا شامل دے هغه الفاظ او طریقې د سلام ته چه د شرع نه خلاف وي لکه لفظ السَّامُ عَلَيْكَ، په خیر راغلې، په خه چار رشې. اَنْعِمْ صَبَاحًا (صبا د خه شه)، ورځ د خه شه یا په ګوتو او په لاس اوچتولو سره سلام کافي ګنړل او ابتداء په السّلام علیکم سره نه کول. او په دا سے حالت کښې هغه حقدار د جواب د سلام نه دے. يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ الله تعالی تحیه په لفظ د سلام سره ذکر کړیده لکه سَلَامٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰی. وَسَلَامٌ عَلَى المرسلين. وَيَقُوْلُوْنَ لَوْلَا اه مقصد دا دے چه دا (بے ادبي د نبي صلی الله علیه وسلم) ګناه نه ګنړي ځکه چه تر اوسه پورے په دوي باندے عذاب نه دے راغلے. بِمَا نَقُوْلُ مراد د دے نه ناجائز تناجي، او تحریف په سلام کښې دے.

وَالتَّقْوٰى ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ

او تقوىٰ سره ۔ او ویره کوئے دَ الله تعالىٰ نه هغه ذات چه هغه ته به

تُحْشَرُوْنَ ۝ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ

جمع کړے شئ تاسو ۔ یقینًا دا قسم جرګے دَ شیطان ر په وسوسے سره دی)

لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَاۗرِّهِمْ

دَ دے دَپاره چه غمژن کړی مؤمنانو لره او نه دی ضرر ورکوونکی مؤمنانو ته

سره روستو دَ زجر ورکولو نه مفسدانو ته په ناجائز تناجی کولو مؤمنانو لره اول قانون اصلاحی دَ تناجی په باره کښ ذکر کوی ۔ حاصل دا دے چه کله مؤمنان یو جرګه، اجلاس، میټنګ کوی یا یو اجلاس ته را اوبللے شی نو ضروری دا ده چه دَ ناجائز اجلاس کولو او دَ هغے دَ شرکت نه ډه ځان بچ اوساتی ۔ اِذَا تَنَاجَيْتُمْ په دے شرطلګولو کښ اشاره ده چه تناجی کول ماموربه نه ده لیکن که چرے ضرورت پریوځی نو تناجی کښ دَ ادب لحاظ اوکړئ ۔ بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى بِرّ اشاره ده امتثال دَ ماموراتو ته او تقوی اشاره ده اجتناب دَ منهیاتو ته یا بِرِّ احسان کول دَ مخلوق سره او تقوىٰ حقوق الله ته اشاره ده ۔

فائده ۱: په سورة نساء ۱۱۴ کښ استثناء ئے کړے ده په نجوىٰ کولو کښ دَ درے ماموراتو نه او په دے ایت کښ امر دے په دوه اعمالو سره وجه دا ده چه په سورة النساء کښ (يُبَيِّتُوْنَ مَالَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ) ذکر کړے دے یعنی دَ منافقانو جرګے په باره دَ اقوالو کښ او امر کول هم دَ قبیلے دَ اقوالو نه دے نو هغه سورت کښ (اِلَّا مَنْ اَمَرَ) سره درے مامورات ذکر کړل او په دے سورت کښ ئے محادّه ذکر کړے ده او محادّه کول عمل دے او بِرّ او تقوی دَ محادّے نه خلاف عمل کول دی نو دلته دا دواړه عملونه دَ تناجی دَ پاره خاص کړل ۔ بیا وجه دَ فرق دا ده چه په هغه سورت کښ دَ منافقانو په نجوىٰ کولو باندے رد کول مقصد دے او دَ منافقانو عادت دا دے چه امر کوی په بخل کولو او په منکر سره او دَ خلقو په مینځ کښ فساد پیدا کوی نو هلته ئے دَ هغے مقابل خیزونه ذکر کړل یعنی امر په صدقه کولو او معروف او اصلاح کول ۔ او په دے سورت کښ مؤمنانو ته خطاب دے او دَ ایمان سره مناسب دوه کارونه دی بِرّ او تقوىٰ ۔

شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

هیڅ ضرر مګر په حکم دَ الله تعالیٰ سره او خاص په الله تعالیٰ باندے توکل کوی

الْمُؤْمِنُوْنَ ۝۱۰ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ

مؤمنان - اے ایمان والو کوم وخت چه اوویلے شی

لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِى الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا

تاسو ته ځائے پریردئ یو بل ته په ځایونو دَ ناستے کښ نو ځائے پریږدئ

يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا

ځائے به فراخ کړی الله تعالیٰ تاسو لره او کوم وخت چه اوویلے شی پاسے دَ خپل ځائے نه

فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ

نو پاسے اوچتوی الله تعالیٰ مؤمنانو لره ستاسو نه

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ۭ وَاللّٰهُ

او هغه کسان چه علم ورکړے شویدے په ډیرو درجو سره او الله تعالیٰ

سلا په دے کښ رد دے په بے ضرورته جرګے کولو باندے او هغه جرګے کول د منافقانو دی په مخالفت دَ مؤمنانو کښ۔ اِنَّمَا النَّجْوٰی الف لام عهدی دی یعنی نجوی مذمومه چه اثم عدوان او معصیت سره وی او داخل ده په دے کښ هغه چه په حدیث مسلم کښ دَ هغے نه نهی کړے شویده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی "چه هر کله تاسو درے کسان یئ نو دوه تنه دِ بغیر دَ دریم نه تناجی (جرګه) نه کوی دے دَ پاره چه هغه دریم غمژن نه شی"
او قرطبی ویلی دی چه تخصیص په درے پورے نیشته ډیرو ته هم شامل دے۔
لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا یعنی منافقان چه هر کله جرګه کوی نو ضرور دَ مؤمنانو په مخالفت کښ ئے کوی هغوی ته دَ ضرر رسولو دَ پاره ئے کوی۔
وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ اه یعنی هر کله چه مؤمنان دَ هغوی دَ جرګو نه خه ویره محسوسه کړی نو دَ هغوی دَ شر نه دِ پناه غواړی او په الله تعالیٰ باندے دِ ځان اوسپاری او دَ الله تعالیٰ دَ مدد انتظار دِ کوی۔

بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٌ ⑪ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ

ستاسو په عملونو باندے خبردار دے. اے ایمان والو

ﷺ دا دویم ادب دَ مؤمنانو دَ پاره دَ مجلس دَ تنا جی سره متعلق دے چه په دیکښ امر دے په اکرام او عزت دَ ملګرو دَ ایمان دَ وجے نه او دَ اهل علمو زیات اکرام او عزت کول. او په دیکښ اشاره ده چه دَ مجلس او جماعت شرکاء به مساوی نه ګنړئ بلکه علم والو له به افضله مرتبه او عهده ورکیدیشی.

إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ "اه تَفَسَّحُ نه مراد دا دے چه په خپل ځائے باندے داسے کینئ چه دَ بل ملګری ځائے بند نه کړی دا معنٰی نه ده چه فراخ او کهلاؤ کینئ او دَ بل چا دَ کینا ستلو ځائے بند کړی. ٱلۡمَجَٰلِسِ دَ دے نه مراد عام مجالس دَ ذکر او دَ خطبے او ریدلو دی او مجلس دَ مشورے کولو او مجلس دَ درسونو وغیره دی. يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡ فراخی دَ دُنیا او آخرت ته شامل دے او هر کله چه جزاء دَ عمل دَ جنس نه وی نو دَ جزا نه ئے تعبیر اوکړو په یفسح سره. او حدیث صحیح کښ هم راغلے دی چه یو شخص دِ بل چا لره دَ مجلس نه په دے مقصد باندے نه پاسوی چه دَ هغه په ځائے باندے پخپله کینی. او بل حدیث کښ وارد دی چه هر کله یو شخص دَ خپل ځائے نه (دَ څه ضرورت) دَ پاره پاسیږی او اراده دَ واپسے لری نو بل شخص دِ دَ هغه په ځائے باندے نه کینی.

وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ "اه مراد دَ دے دا دے چه امیر مجلس چا ته امر اوکړی چه دَ خپل ځائے نه پورته شه دَ دے دَ پاره چه مشر سړی له ځائے ورکړی نو دا شخص به دا امر منی او دا رنګ چه امر اوکړی دَ مانځه دَ پاره، جهاد دَ پاره، بل څه کار خیر دَ پاره چه دَ خپل ځائے نه اودریږئ نو دا امر به هم منلے کیږی.

فائده:- راتلونکی شخص دَ پاره اودریدلو کښ اختلاف دے دَ اهل علمو. دَ وجے دَ احادیثو مختلفو نه بعض اهل علم دَ جواز مطلقًا قائل دی او بعض مطلقًا منع کوی او بعضو پکښ تفصیل کړیدے او دا غوره دے تفصیل دا دے چه دَ سفر نه راشی یا حاکم په ځائے دَ ولایت خپل کښ وی نو هغوی ته قیام جائز دے او نور چا ته نه دے جائز. او دا رنګ خوک چه په دے قیام خوشحالیږی یا خوك چه دَ دے نه دَ خپل ځان دَ پاره منع کوی او په هغے خفه کیږی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به تو هغه دَ پاره قیام منعه دے. دا رنګ چه یو شخص

دَ ځان دَ پاره منع کړے وه

إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ

هر كله چه جركه كول غواړئ د رسول صلى الله عليه وسلم سره نو اولېږئ مخكښې د

تاسو وى او بل شخص ورته بے ضرورته ولاړ وى او دے په هغے باندے خوشحاله وى نو دا ناجائز دے او دا رنګ د دے عادت جوړول هم منع دى او ابن حجر د ابن رشد نه نقل كړيدى چه قيام په څلور قسمه دے اول قسم حرام دے هغه دا چه يو شخص غواړى د وجے د تكبر نه چه ماته د قيام اوكړے شى دويم قسم مكروه دے هغه دا چه يو شخص قيام په دے وجے سره بد اګنړى چه متكبرينو سره تشبيه راشى او يا زما په زړه كښې تكبر پيدا شى دريم قسم جائز دے هغه دا چه يو شخص قيام د خلقو نه نۀ غواړى او د هغه د اكرام او د يرّ د وجے نه هغه ته قيام اوكړے شى څلورم قسم مستحب دے هغه قيام د هغه دپاره دے چه د سفر نه راشى يا هغه خوک چه هغه ته په څه نعمت باندے مبارکى وركيدے شى يا په څه مصيبت كښې تعزيه وركيدے شى . زيات تفصيل فتح البارى ص۴۵ جلد ۱۱ كښې دے)

يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا دا جواب د امر (فانشزوا) دے او جزاء د جنس د عمل نه وى يعنى چه تاسو په امر د شرعے پوره شئ نو الله تعالىٰ به تاسو په شرط د ايمان سره پورته كړى او اشاره ده چه ايمان سبب د رفعت دے .

وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ په دے كښې دوه توجيه دى اول دا چه په كلام كښې تقدير دے يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا فِي الْكَرَامَةِ فِي الدُّنْيَا وَالثَّوَابِ فِي الْآخِرَةِ وَيَرْفَعُ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ كَثِيرَةٍ عَلَىٰ عَامَّةِ الْمُؤْمِنِينَ. يعنى اول رفعت په ايمان سره دے بيا ډيرے درجے او رفعت په علم سره دے . او اشاره ده چه رفعت په نيز د الله تعالىٰ په ايمان او په علم سره دے نه په سبقيت د مجالسو سره .

دويم توجيه دا چه والذين د ستے عطف دے په والذين مخكنى باندے او يوه جمله ده معنىٰ دا چه پورته كوى الله تعالىٰ هغه كسان چه ايمان ئے راوړے وى او عالمان هم وى په ډيرو درجاتو سره . ليكن اوله توجيه غوره ده په سبب د تكرار د موصول سره . او د دے ايت په تفسير كښې ابن كثير، قرطبى، شربينى، الوسى د علم فضيلت په تفصيل (راټے په بل مخ)

نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ۭ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ۭ

جرگے ستاسو نه خیرات دا غوره ده تاسو لره او پاکوونکے ده

فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑫

نو که تاسو نه مومئ (صدقه) نو یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ

آیا او یریدلئ تاسو چه اولیږئ مخکښ دَ جرگے ستاسو نه

صَدَقٰتٍ ۭ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

خیراتونه نو کله چه اونکړئ (دَ عجز دَ وجے نه) او اسانتیا راوستله الله تعالیٰ په تاسو باندے

سره لیکلے دے او محمود کرمانی په غرائب التفسیر کښ دَ ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت ذکر کړیدے چه اے خلقو ځان پیدے ایت باندے پوهه کړئ دَپاره دَ دے چه په علم کښ رغبت اوکړئ. او قرطبي لیکلے دی چه مراد دَ اوتوا العلم نه علماء دَ قرآن دی.

۱۲ دا دریم قانون او ادب دَ نجویٰ کولو دے او مقصد په دے کښ تخفیف وو په نبی صلی الله علیه وسلم باندے او بنکاره کول وو دَ اخلاص دَ مناجات کوونکو. وجه دا وه چه منافقینو خلقو به بے ضرورته دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره جرگے کولے او دَ هغه وخت به یئے ضائع کولو او نورو مسلمانانو له به یئے دَ نجویٰ کولو وخت نه ورکوو نو دا قانون الله تعالیٰ مقرر کړو چه څوک دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره نجویٰ کول غواړی نو وړاندے به صدقه اوکړی دَپاره دَ دے چه اخلاص یئے معلوم شي او دا حکم مختص وو په نجویٰ دَ نبی صلی الله علیه وسلم پورے. فَقَدِّمُوْا امر ظاهر دا دے چه دا دَپاره دَ وجوب دے. ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ دا فائدے دَ دے حکم دی. خَيْرٌ یعنی ډیر اجر او ثواب دے او دَ مسکینانو فقراء سره همدردی ده او ذریعه ده دَپاره دَ فائدے اخستلو دَ مشورے دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه. وَاَطْهَرُ پاکوونکے دَ بخل او دَ محبت دَ دنیا نه او دا رنگ دَ نفاق نه. فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا مراد دَ دیته عدم طاقت مالیه دے یعنی مسکین او فقیر باندے دا صدقه واجب نه ده.

فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَأَطِيعُوا اللّٰهَ

تو پابندی دَ مونځ کوئ او ورکوئ ذکوة او اطاعت کوئ دَ الله تعالیٰ

وَرَسُولَهٗ ۚ وَاللّٰهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ⑬ ع

او دَ رسول دَ هغه او الله تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو باندے چه تاسو کوئ۔

س۱۳ ءَ اَشْفَقْتُمْ خطاب عام دے مؤمنانو او منافقانو ته۔ منافقان او یریدل دَ صدقے ورکولو نه په سبب دَ بُخل سره۔ او مؤمنان او یریدل دَ دوام دَ دے حکم نه یعنی دوی اُویل که چرے دا حکم همیشه پاتے شی او مونږ خو فقراء یو هر وخت دَ صدقے طاقت نه لرو نو دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره به دَ نجوی کولو نه محرومه پاتے شو۔ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا منافقانو په دے باندے عمل اونکړو دَ وجے دَ نفاق نه۔ لیکن مؤمنانو عمل اونکړو دَ دے وجے نه چه فرصت دَ صدقے ورکولو ورته ملاؤ نشو ځکه چه حکم کښ تبدیلی ډیره زر راغله او مفسرینو په تفسیر دَ دے ایت کښ دوه روایتونه دَ علی رضی الله عنه نه نقل کړیدی یو دا چه هغه عمل کړے وو په دے ایت باندے او نورو صحابو ته موقع ملاؤ نشوه لیکن هغه روایت دَ دے لفظ فاذ لم تفعلوا نه مخالف دے او قرطبی ویلے دی چه هغه روایت ضعیف دے۔ او دویم روایت په سنن امام ترمذی او ابن جریر سره نقل دے چه په هغے کښ ثابت شوے دَه چه علی رضی الله عنه خو په دے عمل نه دے کړے لیکن نبی صلی الله علیه وسلم نه یئے مشوره ورکړه چه دا صحابه کرام خو دَ دے طاقت نشی لرلے نو الله تعالیٰ دَ هغه دَ وجے نه تخفیف راوستلے دے۔ وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ دلته توبه په معنیٰ دَ تخفیف سره ده لکه سورة مزمل س۲۰ کښ هم توبه په معنیٰ دَ تخفیف ده ځکه دلته دَ گناه صدور نه دے ثابت شوے۔

فَاَقِيمُوا الصَّلٰوةَ اه یعنی که چرے په مستحباتو باندے عمل نه شئ کولے نو پرواه نیشته خو فرائضو باندے همیشه عمل جاری ساتئ او په هغے کښ نسخ یا تخفیف نه راځی۔

فائده:۔ مشهوره دا ده چه اول ایت په دویم سره منسوخ شویدے او ویلے شویدی چه دَ منسوخیت دَ پاره په اول حکم باندے عمل ریاتے په بل مخ)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ

ایا نه گورے ته هغه کسانو ته چه دوستانه کوی دا سے قوم سره چه غضب کړے دے الله تعالیٰ

عَلَيْهِمْ ط مَا هُمْ مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ

په هغوی باندے نه دی هغوی ستاسو نه او نه د دوی نه او قسمونه کوی

عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ اللَّهُ

په دروغو باندے او دوی پوهیږی . تیار کړے دے الله تعالیٰ

قول هم شرط نه وی په سبب دَ دے واقع سره. لیکن تحقیق دا دے چه دَ
متقدمینو علماؤ په نیز نسخ صرف تبدیلی ته ویلے کیږی، نو دا نسخ دے لیکن
دَ متأخرینو په اصطلاح کښ دا نسخ نه دے نو بیا په دے کښ دوه قولونه
دی اول دا چه دا تخفیف دَ حکم دے دَ وجوب نه استحباب ته لکه چه سورة
انفال ۶۶ کښ تیر شویدی او دویم قول دا دے چه دویم ایت شرح دَ اول ایت
ده یعنی معلومه شوه په دویم ایت سره چه په اول ایت کښ هم امر دَ وجوب
دَ پاره نه وو دَ دے وجے نه هیچ چا په هغے باندے عمل نه دے کړے صرف
دَ دے دَ پاره حکم وو چه دَ منافقانو او دَ مخلصانو په مینځ کښ فرق راشی. لیکن
اول قول په دے دواړو قولونو کښ غوره دے چه دا تخفیف دے. نسخ هم
نه دے او صرف شرح هم نه ده.
س۱۴ دَ دے ایت نه تر اخره پورے دویم باب دے په دے کښ زجرونه دی
منافقینو مفسدینو ته او دَ هغوی پټ مجلس قبائح ذکر کوی او تخویف ورکوی په س۱۵ او
س۱۶ کښ او په اخر کښ صفت دَ مؤمنانو دے په ذکر دَ براءت دَ هغوی دَ محادینو
مفسدینو نه او بشارت دے مؤمنانو ته. په دے (س۱۴) کښ درے قبائح دَ
منافقینو ذکر کړے دی.
اول قباحت تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مراد دَ دے نه یهودیان دی ځکه
چه په دوی کښ اسباب دَ غضب الٰهی موجود دی ډیر ایا تو نه دَ قران کریم
په دے باندے شاهد دی لکه سورة بقره س۶۱ س۹۰ او سورة ممتحنه س۱۳.
دویم قباحت مَا هُمْ مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ لکه چه سورة نساء س۱۴۳ کښ تیر شویدی.
دریم قباحت دَ يَحْلِفُونَ عَلَى الْكَذِبِ په دعوی دَ ایمان او اسلام کښ

لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۭ اِنَّهُمْ سَاۗءَ مَا كَانُوْا

دوی لره عذاب سخت یقیناً دوی ناکاره دی هغه عملونه

يَعْمَلُوْنَ ۝۱۵ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

چه دوی کوی . جوړ کړے دی دوی قسمونو خپل ډال

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ

نو بند شول (یا بندول کوی) دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه نو دوی لره عذاب

مُّهِيْنٌ ۝۱۶ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ

رسوا کوونکے دے . هیچرے په دفع نه کړی دَ دوی نه مالونه دَ دوی

او شهادت دَ رسالت دَ دے رسول کښ دُرغژن وی او حال دا چه قسمونه هم کوی.
په صیغه دَ مضارع کښ تجدّد ته اشاره ده او لفظ دَ علیٰ کښ جراءت او زړورتیا
ته اشاره ده یعنی مُجْتَرِئِيْنَ عَلَى الْكَذِبِ . (زړورتیا کوونکی دی په دروغو او
په قسم کولو کښ). وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ یعنی سرهٔ دَ علم او دَ قصد نه دروغ وائی او
قسم کوی نو دا یمین غموس دے.
۱۵ دَ دے ایت په اوله جمله کښ تخویف دے او دویمه جمله کښ یل قباحت
دَ دوی ذکر کوی چه هغه علت دَ عذاب دے.
۱۶ دا جمله مستأنفه ده په جواب دَ سوال کښ ده چه که څوک اُوائی چه دوی
سرهٔ دَ پوهے وَلے په دروغه قسم کوی نو جواب ورکوی - او دا رنګ دا جمله
تفصیل دَ سَاۗءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ دے او په دیکښ دَ دوی دوه قباحتونه نور ذکر
کړیدی او په اخری جمله کښ تخویف دے . اَيْمَانَهُمْ مراد تری نه دروغ قسمونه
دَ دوی دی. جُنَّةً ډال ته وئیلے کیږی چه په هغے سره ځان دَ ګذار دَ تورے،
ټوپک وغیره نه . بچ کوی . نو دا رنګ دوی په دے قسمونو سره ځان دَ مؤمنانو
دَ زجر او هرے شرمندګئ نه . بچ کوی . فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دا لازمی
دے یعنی بند شول دَ حق نه ، یا متعدّی دے یعنی خلق منع کوی دَ لارے دَ
الله تعالیٰ نه ، فَا دلالت کوی چه دا قسمونه دَ دوی سبب دے دَ پاره دَ صَدٌّ
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ - فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ دا فَا هم دلالت کوی (پاتے په بل مخ)

وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ اُولٰٓئِكَ

او نه اولاد دَ دوی دَ (عذاب) دَ الله تعالٰی نه هیڅ څیز - دغه کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾

اُور والا دی دوی به په هغې کښې همیشه وی -

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ

په کومه ورځ چه راپورته به کړی الله تعالٰی دوی ټولو لره نو قسمونه به کوی دوی هغه ته

كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ

لکه چه قسمونه کوی تاسو ته او ګمان کوی دوی چه یقینًا دوی

عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾

په څیز (فائده مند) باندے دی خبر شئ یقینًا دوی دروغژن دی -

چه صَدُّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰه علت دے دَپاره دَعذاب دَ دوی - او هرکله چه دوی په دروغ قسم کښې توهین کوی دَ نوم دَ الله تعالٰی او دا رنګ دَ مؤمنانو اهانت کوی دَ دے وجے نه عذاب مُهین ئې ذکر کړو۔

س۱۷ دا تخویف اخروی دے په ذکر دَ دوه قباحاتو دَ دوی سره - او رد دے په زعم دَ هغه چا باندے چه په مالونو او په اولاد سره لوئي او تکبر کوی - اَمْوَالُهُمْ په فدیه ورکولو او په رشوت ورکولو سره فائده نه ورکوی - وَلَآ اَوْلَادُهُمْ لفظ دَ لَآ ئې دَ تاکید دَ نفی دَپاره مکرر راوړے دے - اولاد په مدد کولو او دا رنګ په دنیا کښې په دُعا کانو غوختلو او په نیک عملونو سره مور او پلار (مشرکانو) ته فائده نشی ورکولے مِنَ اللّٰهِ دَ عذاب دَ الله تعالٰی نه. شَيْـًٔا مفعول به دے یا مِنَ اللّٰهِ په معنٰی دَ عند الله دے او شيئًا مفعول مطلق دے یعنی شَيْـًٔا مِنَ الْاِغْنَاءِ دا رنګ آیت په سورت آل عمران س۱۰ س۱۱۶ کښې تیر شوے دے۔

س۱۸ په دے کښې دَ دوی دریم قباحات ذکر کوی - يَوْمَ متعلق دے په اصحاب النار پورے یا په اذکروا پټ پورے فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ قسمونه به کوی چه مونږ په هدایت باندے وو او مونږ هیڅ کفر نه دے کړے پشان دَ مشرکانو به قسم کوی لکه

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ

غلبه کړېده په دوی باندې شيطان نو هېر يې کړو د دوی نه ذکر د الله تعالیٰ

اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ

دغه کسان ډله د شيطان ده خبر شئ يقيناً ډله

الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

د شيطان دوی تاوان والا دي - يقيناً هغه کسان

سورة انعام ۲۳ کښ - كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ يعني دوی په دُنيا کښ په دروغ قسمونو باندې عادت وو -

ابن کثير وېلې دي چه چا په کم عمل باندې ژوند تېر کړې وي نو په هغې باندې مړ کېږي او په هغې باندې بيا ژوندې کېږي -

يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ عطف دې په اول يحلفون يا په دويم باندې يعني په دُنيا او اخرت دواړو کښ د دوی ګمان دې چه په دروغه قسم کول په مونږ د پاره فائده مند وي او دا دوی خپل کمال ګڼړي - اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ يعني دوی په دې قسم د ورځ اخرت او ګمان کولو کښ دروغژن دي لکه چه په دُنيا کښ دروغژن وو او هر کله چه دوی په قسم کولو سره خپل دروغ پټوي نو الله تعالیٰ په اثبات د کذب د دوی کښ تاکيد اوکړو په لفظ د اَلَآ او اِنَّ او هُمْ ضمير فصل، او لام تاکيدی سره او په جملې اسميه سره -

۱۹ په دې ايت کښ نور درې قبائح د دوی ذکر دي - اِسْتَحْوَذَ دا د تېر شوې قبائحو د پاره علت دې د دې وجې نه په عطف سره نه دې ذکر کړې -

اِسْتَحْوَذَ د حوذ نه ماخوذ دې په معنیٰ د راګيرولو، او په تيزئ او اسانتيا سره شړلو ته وېلې کيږي او دا مستلزم دې غلبې او قوّت لره يعني شيطانانو په دوی باندې داسې قوت او غلبه په وسوسې کولو او ګمراه کولو سره موندلې ده لکه چه هغه د دوی بادشاه دې او دوی يې رعيّت دي -

فَاَنْسٰهُمْ فا دلالت کوي چه ما قبل سبب دې د پاره د مَا بَعْد - اِنْسَاءَ په معنیٰ د غافل کولو او د ترک سره دې ذِكْرَ اللّٰهِ او امر او نواهي د الله تعالیٰ او قران کريم او توحيد ټولو ته دا لفظ شامل دې - (پاتې په بل مخ)

يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِى

چه خلاف کوی د حدود د الله تعالیٰ او د رسول د هغه ته دغه کسان په

الْاَذَلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا

ډیرو ذلیلانو کښ دی . لیکلے دی الله تعالیٰ (په تقدیر کښ) چه ضرور غالب کیږم به زهٔ

وَرُسُلِىْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ قَوِىٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۱﴾

او رسولان زما یقینًا الله تعالیٰ قوت والا زور آور دے .

حِزْبُ الشَّیْطَانِ حزب هغه تابعداری کوونکی ته ویلے کیږی چه اتباع د متبوع کښ کلک او تعصب کوونکی وی بل طرف ته په آسانه سره نه اوړی او نه د بل چا خبره اوری .

۲۰ په دے آیت کښ سخت زجر دے محادّه کوونکو ته عمومًا (که په هره زمانه کښ وی) او په ۵ کښ زجر وُ محادّه کوونکو د دے امت ته د دے وجے نه په هغه آیت کښ د هغوی تشبیه ئے د مخکنو سره ورکړے وه دا یو فرق دے د دواړه آیاتونو دویم فرق دا دے چه هلته کښ دُعاءِ شر (خیرے وے) وه او په دے آیت کښ خبر او حکم کول دی د دوی په ذلت سره . دریم فرق دا دے چه په هغه آیت کښ د ښکاره کافرانو ذکر مراد وؤ او په دے آیت کښ منافقان مراد دی نو معلومه شوه چه تکرار نشته دے اُولٰٓئِكَ فِى الْاَذَلِّيْنَ په دے کښ ډیر تاکید دے په ذکر د اولٰئك سره او په ذکر د حرف فِى سره چه دلالت کوی په استغراق او انغماس باندے او په ذکر د جمع د اذلین سره یعنی دوی غرق او ډوب دی په جماعت د ذلت والو کښ .

۲۱ روستو د تخویف نه بشارت دے ایمان والو ته په غلبه او نصرت الٰهیه سره . كَتَبَ مراد د دے نه لیکل دی په کتاب د تقدیر کښ او په هغے کښ هیڅ قسم تبدیلی نه راځی . او دیته سبقیت د کلمے ویلے شوی دے په سورة صافات ۱۷۱ کښ . لَاَغْلِبَنَّ اَنَا دا ئے د تاکید د پاره ذکر کړی دے غلبه په مخلوق او په دُشمنانو باندے خو د الله تعالیٰ صفتِ حقیقیه دے . وَرُسُلِىْ یعنی هغه رسولان چه جنګ کوی د دشمنانو سره نو غالب به وی په جنګ کښ یه

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او به نه مومے ته داسے قوم چه ایمان لری په الله تعالیٰ او په ورځ د وستنے

يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا

چه دوستانه کوی د هغه چا سره چه خلاف یې کړیدی د حدود د الله تعالیٰ او د رسول د هغه ته اګرچه هغوی وی

اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ

د دوی پلاران یا د دوی ځامن یا د دوی رونړه یا د دوی قبیله

اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِىْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ

دغه کسان لیکلے دے (ربوخ) په زړونو د دوی کښ ایمان او کلک کړے دی دوی

بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ

په روح سره د هغه د طرف نه او داخلوی دوی لره جنتونو ته چه بهیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِىَ اللّٰهُ

لاندے د هغے نه ویالے همیشه به وی دوی په هغے کښ رضا دے الله تعالیٰ

عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ

د دوی نه او دوی رضا دی د هغه نه دغه کسان ډله د الله تعالیٰ ده

اعتبار د عاقبت سره او په حجت کښ به خو تل غالب وی او داسے په سورة صافات ۱۸۲ کښ ذکر شوید ی۔

قَوِیٌّ په نصرت د دوستانو بان دے۔

عَزِیزٌ دے په مقابله د دُشمنانو کښ غالب دے او دا غلبه او قوت سبب دے د پاره د تذلیل د دُشمنانو چه په ایت تیرشوی کښ ذکر شوید ے۔

ع ۳ ۹ ۳

أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ع (۲۲)

خبردشئ يقيناً ډله دَ الله تعالىٰ خاص دوى كامياب دى -

۲۲ هركله چه په سورت کښ دَ محادينو مفسدينو اوصاف ذکر کړے شول نو په دے ايت کښ ترغيب ورکوی مؤمنانو ته په براءت کولو سره دَ هغوی نه په ډير تاکيد سره - لَا تَجِدُ قَوۡمًا اه يعنى دَ ايمانوالو او دَ دوستانے کولو دَ دُشمنانو دَ الله تعالىٰ او دَ رسول ﷺ په مينځ کښ جمع نشي کيدلے او دَ نه موندلو نه مراد نه کول دَدے دی په طريقه دَ مبالغے سره - يُوَآدُّونَ مؤدّة په اصل کښ په باطن کښ وی او اثر ئے په ظاهر کښ موجود وی يعنى باطنى اوظاهرى دواړه دوستانے کول، او صرف بِرّ او قسط خو دَ بعضو کافرانو سره جائز دے چه هغوی اهل ذمّه دی لکه په سورة ممتحنه ۸ کښ به راشي. وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ اه يعنى دَ هيڅ نسب او قرابت لحاظ نه کوی په باره دَ براءت کولو کښ دَ محادّينو نه. او په دے کښ اشاره ده چه په دا سے حالت کښ دَ صِلہ رحمیٔ ساتلو حکم نيشته دے او مفسرينو ليکلی دی چه دَ دے ايت اول مصداق صحابه کرام دی ځکه چه ابو عبيده رضى الله عنه خپل پلار لره په ورځ دَ بدر کښ قتل کړے وو او عبد الله رضى الله عنه ځوئے دَ عبد الله بن اُبیّ دَ خپل پلار دَ قتل کولو اجازت دَ رسول الله صلى الله عليه وسلّم نه طلب کړے وو او ابو بکر رضى الله عنه خپل پلار لره په سخته سپيره سره وهلے وو هرکله چه هغه نبى صلى الله عليه وسلّم ته کنځل کړے وو او دا رنګ ابو بکر رضى الله عنه دَ خپل ځوئي دَ قتل اراده کړے وه په ورځ دَ بدر کښ او مصعب بن عمير رضى الله عنه خپل رور لره په ورځ دَ بدر کښ قتل کړے وو او عمر رضى الله عنه او دا رنګ حمزه، على او عبيده بن الحارث رضي الله عنهم ډيرو خپلوانو لره په دغه ورځ قتل کړيوؤ - أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلۡإِيمَٰنَ اشاره ده يقين کامل ته چه هغه په محبت دَ غير الله سره نه محو کيږی لکه چه پوخ خط ليکلے شوے په اوبو وغيره سره نه ورانيږی - وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ مراد دَ روح نه قرآن کريم او علم دَ قرآن دے په روايت دَ ربيع سره - نو اشاره ده چه تقويت دَ ايمان په قرآن کريم سره راځي - رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ اشاره ده چه دوی دَ الله تعالىٰ دَ وجے نه ناراض وؤ دَ مخلوق نه نو دَ هغے په عوض کښ دوی ته رضا ملاؤ شوه - أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ دا ئے په مقابل دَ

حزب الشیطان کښې ذکر کړے دے اشاره ده چه ولې د الله یاد انسان سړی کول هغه ته وړلې کیږی چه د دوست د رضا کولو د وجې نه خپل خپلوان او خپل دوستان پریږدی او د هغوی سره هیڅ محبت او نصرت نه کوی۔

فائده ۱:۔ قرطبی د امام مالک نه نقل کړی دی چه دا آیت دلیل دے چه د منکرینو د تقدیر سره دوستانه لرل او د هغوی په مجلس کښې شرکت کول منع دی۔ او دا رنګ دا حکم د ټولو ظالمانو او بد عتیانو دے او شربینی ذکر کړیدی چه چا میلان اوکړو هغه چا ته چه د دین نه منحرف وی یا ئې مداهنت اوکړو د عقیدے د بد عتی سره نو الله تعالی نور د توحید لره د هغه د زړه نه او باسی۔ او په فضیلت د دے سورت کښې لیکلی دی چه دا د قرآن د سورتونو د شمارے په لحاظ سره دویم نصف دے یعنی اته پنځوستم دے او د دے په هر آیت کښې د الله تعالی ذکر یو کرت یا دوه کرته موجود دے۔

فائده ۲:۔ په سورة مائده ۵۶ کښې فان حزب الله هم الغالبون ذکر دے او دلته ئې المفلحون ذکر کړیدے وجه دا ده چه سورة مائده ۵۷ کښې صرف ولاء ذکر کړی وه او په دے سورت کښې براء ذکر کړیده د حزب الشیطان سره او براء اکمل ایمان دے په نسبت د صرف ولاء سره نو د صرف ایمان سره غلبه دنیویه ذکر کړه او د اکمل ایمان سره ئې چه براء ده اکمله نتیجه ذکر کړه چه هغه فلاح اخروی ده۔ (والله اعلم)

الحمد لله ختم شو تفسیر د سورة مجادله په فضل د الله تعالی

سُورَةُ الحشر ۵۹ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اٰيَاتُهَا ۲۴ رُكُوْعَاتُهَا ۳

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ج

پاکي وائي الله تعالىٰ لره هغه څيزونه چه په اسمانونو کښې دي او هغه څيزونه چه په زمکه کښې دي

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة حشر او دَ دے بل نوم سورة بنی نضیر دے۔

ربط دَ دے دَ مخکښې سورت سره په ډیرو وجوهو سره دَاوله وجه دا ده چه په سورة مجادله کښې زجرونه وُو مفسدینو ته او په دے سورة کښې تخویف دنیوی دے۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې ئے محادّه ذکر کړے وه نو په دے سورت کښې مشاقه ذکر کوی۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې دَ منافقانو یو قسم قبائح وُو او په دے سورت کښې دَ هغوی بل قسم قبائح دی۔

دعویٰ دَ سورت۔ تخویف دنیوی مشاقینو دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم ته په تمثیل دَ بنی نضیر سره په ۲ کښې او ذکر دَ توحید دے دَ پاره دَ امن دَ عذاب ته په ذکر دَ دویشت اسماء حسنیٰ دَ الله تعالیٰ سره په اول او په آخر دَ سورت کښې۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب ترے پورے دے په دیکښې دعوی دَ توحید دَ په ذکر دَ تسبیح دَ پاره دَ دفع کولو دَ وهم یعنی که څوک اعتراض اوکړی چه بنی نضیرو ته عذاب ورکول په اخراج سره ظلم دے نو جواب اوکړے شو چه الله تعالیٰ دَ ظلم کولو نه پاک دے هغه چه څَکوی نو دَ خپل عزت دَ حاصلولو دَ پاره نه کوی هغه خو عزیز دے او بے فائدے هم نه کوی هغه حکیم دے۔ بیا ذکر دَ عذاب دَ بنی نضیرو دے په ۲ کښې بیا تخویف اخروی ذکر دے په ۳ کښې بیا سبب دَ دے عذاب ذکر کوی په ۴ کښې او دا دعویٰ دَ سورت ده بیا جواب دَ یو سوال دے په ۵ کښې بیا حکم دَ مالِ فئ ذکر او دَ هغے مصارف دے۔ قسمونه ذکر کوی تر ۱۰ پورے۔

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ

او خاص هغه دے زورآور حکمتونو والا ۔ خاص هغه داسے ذات دے چه اُویستل ئے

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ

کافران د کتابیانو د

دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ؕ مَا ظَنَنْتُمْ

کورونو د هغوی ته په اول راغونډولو سره گمان نه کوو تاسو

اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ

چه دوی به اوځی او دوی گمان کوو چه یقیناً بچ کوونکی دی دوی لره

حُصُوْنُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ

قلعه ګانے د دوی د الله تعالیٰ نه نو راغے دوی ته الله د داسے ځائے نه

لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۗ وَقَذَفَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ

چه دوی گمان نه کوو او واچوله ئے د دوی په زړونو کښں ویره

يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ق

وراتول دوی کورونه خپل په لاسونو خپلو او په لاسونو د مؤمنانو

تفسیر: دا دعوی د توحید ده په ذکر د تسبیح سره مخکښں د واقعے د بنی نضیرو نه د پاره د جواب د اعتراض کوم چه مونږ په خلاصه کښں ذکر کړے دے الْعَزِيْزُ په دے کښں اشاره ده عذاب د بنی نضیرو ته چه هغوی دُشمنان د الله تعالیٰ وو او الله تعالیٰ په دشمنانو باندے زور آور دے۔ او الْحَكِيْمُ یعنی د دوی په عذاب ورکولو کښں ډیر حکمتونه وو۔

فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ۝۲ وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ

نو عبرت واخلئ اے د بوھے خاوندانو ۔ او که چرے نوے لیکلے الله تعالیٰ ر په تقدیر کښ

ــــه تفسیر سراج المنیر او ابن کثیر کښ دَ بنی نضیر و تفصیلی واقعه ذکر کړے ده.
حاصل ئے دا دے چه دوی دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره اول عهد کړے وو
چه مونږ به یو بل سره جنګ نه کوو او نه به دَ یو بل دَ دشمن سره ملګرتیا کوو
لیکن دَ اُحد دَ غزوه نه روستو دوی دَ مشرکینِ مکه سره دَ ملګرتیا وعده
اوکړه او دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ وژلو اراده ئے اوکړه نو نبی صلّی الله
علیه وسلّم اول کعب بن اشرف دَ محمد بن مسلمة رضی الله عنه په ذریعه
قتل کړو او بیا ئے سرۀ دَ صحابه کرامو نه دَ بنی نضیرو دَ قلعے نه یو ویشت
یا شپږ ورځے محاصره اوکړه نو دوی دَ صلح کولو مطالبه اوکړه نو نبی صلی الله
علیه وسلّم دَ صلح کولو نه انکار اوکړو او امر ئے اوکړو دَ دوی په جلا وطن
کولو سره او اجازت ئے ورکړو چه په اوښ باندے څومره سامان څوک
اوړلے شی نو هغه نه اجازت دے دَ اوړلو نو هغوی خپلے کوټے په خپل لاسو نو
سره اونړولے او مؤمنانو ته ئے پدے کښ مدد طلب کړو او لرګی وغیره ئے په
اوښانو باندے بار کړل او اکثر کسان دَ دوی په شام کښ اذرعات او اریحا
مقام ته لاړل او دوه کورنۍ دَ دوی (آل دَ بنی حقیق او آل دَ حی بن اخطب)
خیبر ته لاړل او څوک حیره مقام ته لاړل او دَ هغوی باقی منقول او غیر
منقول جائیداد نبی صلّی الله علیه وسلم ته په مال فئ کښ پاتے شو او منافقانو
دَ مدینے دَ هغوی سره دَ مدد کولو لوظ کړے وو لیکن هرکله چه هغوی دَ
مدینے نه اوشړلے شول نو منافقانو ورسره هیڅ امداد او نکړو او مؤمنانو ته
دَ هغوی منافقت هم ښکاره شو.
مِنْ دِيَارِهِمْ دَ وطنِ اصلی نه شړل ډیر لوئے عقوبت دے او دَ اخراج
نسبت الله تعالیٰ ته شوے دے ځکه چه دا امر دَ الله تعالیٰ وو خپل رسول ته.
لِاَوَّلِ الْحَشْرِ دَ دوی څلور حشرونه وو یو حشر دَ مدینے نه خیبر ته.
دویم حشر په زمانه دَ عمر رضی الله عنه کښ دَ خیبر نه شام ته. دریم حشر
په نزدے دَ قیامت کښ په واسطه دَ اُور سره (یا به حقیقة اور وی یا
مراد ترینه فتنه ده) چه هغه په علاماتو دَ قیامت کښ ذکر شوے ده

عَلَيْهِمُ الْجَلَاءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ

په دوی باندے دَ وطن نه شړل نو بل عذاب به ئے دوی ته ورکړے وے په دُنیا کښې او دوی لره

ځلورم حشر په ورځ دَ قیامت کښې دے نو معلومه شوه چه په دے واقعه کښې اول حشر دے۔ یا مراد دَ اول نه هغه اول دے چه ثانی ورله نه وی یعنی په اوله فوج کشئ سره دوی کمزوری شول۔

مَا ظَنَنتُمْ اه اشاره ده چه دوی کمزوری نه وُ خو دَ دوی اخراج دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او عظمت نښه ده۔

حُصُونُهُمْ جمع دَ حِصن ده او دَ دوی ځلور قلعه ګانے مشهورے وے، وطیح، نطاة، سُلالم، کُتیبه۔ او په دے جمله کښې مانعتهم اسم فاعل دَ مضاف دے هم مفعول دے او حصونهم دَ دے فاعل دے۔

فَاَتٰهُمُ اللهُ اه اِتیان دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ نه دے په غیر دَ تاویل او تشبیه نه لکه په سورة بقره ۲۱۰ کښې دے۔

مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا دَ دوی ګمان وُ چه منافقان به زمونږ امداد کوی او اومؤمنان مونږ سره مقابله نشی کولے او قلعه ګانے زمونږ مضبوطے دی نو دَ دے ګمانونو نه خلاف کار اوشو۔

وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ تعبیر په قذف سره ډیر تشدید ته اشاره ده یعنی رعب ئے دَ دوی په زړونو کښې داسے اُویشتلو لکه چه ګټے ویشتلے کیږی۔ او دا فعل او قدرت دَ الله تعالیٰ دے او معجزه دَ نبی صلی الله علیه وسلم ده لکه چه صحیح حدیث کښې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی۔ "ما سره امداد کړے شویدے په رعب زما سره په دُشمن باندے دَ یو میاشتے په مزل سره"۔ يُخْرِبُونَ اه دا تخریب دَ دے دَ پاره وُ چه کوم لرګی او دروازے چه دَ دوی خوښے وے نو ځان سره ئے اوړلے په اجازت دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره او دارنګ دَ دے دَ پاره ئے هم تخریب کوؤ چه په دے کښې بیا مؤمنان او نه اوسیږی۔ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ یعنی دَ دوی نه چه کوم دیوالونه چتونه وغیره پاتے وُ هغه به دَ دوی په وړاندے مؤمنانو نړول دے دَ پاره چه دوی ښه غصه او ذلیل شی۔

فَاعْتَبِرُوا يَا اُولِي الْاَبْصَارِ اعتبار دَ ع ب ر دَ مادے نه دَ ربا تے په بل مخ)

فِى الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ﴿۳﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

په	اٰخرت کښې	عذاب	دَ	اور	دے .	دا په دے وجه سره چه دوی

دلالت کوی په انتقال باندے لکه عبور (تیریدل په اوبو کښې او چې ته) عَبْرَةٌ (اوښکے چه دَ سترګو نه مخ ته اوبهیږی) نو دارنګ اعتبار او عبرت اغستل انتقال دے دَ یو معلوم نه (چه په اوریدلو یا په لیدلو سره معلوم شی) غیر معلوم ته په طریقه دَ فکر کولو سره او دیته قیاس هم ویلے کیږی لیکن لفظ شرعی (چه قرآن او سنت سره ثابت وی) پریخودل او غیر منقول استعمالول نامناسبه کار دے .
اَلْاَبْصَارِ دا لفظ عام دے نظر په بصر او په بصیرت سره دواړو ته شامل دے ځکه چه په عبرت اغستلو کښې اکثر سترګے هم استعمالیږی سرهٔ دَ بصیرت دَ زړه نه او بصائر خاص دے په بصیرت دَ زړه پورے . او په دیکښې اشاره ده چه دَ قرآن کریم قصّے او واقعات صرف دَ افسانه په طور سره اوریدل مقصد نه دے بلکه دَ هغے نه عبرت اغستل مقصد دے او هغه په غور او فکر کولو سره حاصلیږی.
دلته یو عبرت دا دے چه که یو انسان یا قوم علم والا وی او مالدار هم وی او ښکلے او قلعه ګانے یئ هم وی لیکن چه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دین خلاف کوی نو دَ عذاب دَ دنیا نه او ذلت نه نشی بچ کیدلے. دویم عبرت دا دے چه دَ منافقانو او کافرانو په ملګرتیا او په وعدو باندے اعتماد پکار نه دے دریم عبرت دا دے چه په خپل دنیوی قوّت او مالدارئ باندے هم غرور جائز نه دے .

۳ په دے ایت کښې تاکید دے په تخویف دنیوی سره او تخویف اخروی هم دے . لَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ یعنی دَ عذاب دنیوی په اجلاء پورے خاص نه دے نور ډیرے نمونے دَ دنیوی عذابونو په مخکنو قومونو کښې تیرشویدی لیکن په دے قوم باندے خو دَ اجلاء تقدیر کړے شویو او تقدیر خو بدلیږی نه داجمله هم صراحةً دلیل دے په تقدیراتو لیکلو باندے . اَلْجَلَآءَ فرق دَ اخراج او جلاء دا دے چه جلاء خاص ده په جماعت (ډیرو کسانو) پورے او اخراج عام دے که دَ یو شخص وی او که ډیر وی او دارنګ جلاء هغه ده چه سرهٔ دَ اهل وعیال نه وی او اخراج عام دے لَعَذَّبَهُمْ په بل عذاب سره لکه قتل او قید کول پشان دَ مشرکین بدر یا طوفانونه ، سیلئ ، قحطونه وغیره .

شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ

خلاف کړے دے دَ اللہ تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه او چا چه خلاف اوکړو دَ اللہ تعالیٰ

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾ مَا قَطَعْتُمْ

نو یقیناً اللہ تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے. هغه چه تاسو پرے کړے دی

مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى

څه اونے دَ کجورو یا پریخودے دی تاسو هغه اولاړے په

اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۵﴾

د بیخونو خپلو باندے نو دا په حکم دَ اللہ تعالیٰ سره دی او دَ دے دَ پاره چه شرمنده کړی بیرته نافرمانو لره.

ٽک دا سبب دَ عذاب دے او دعویٰ دَ سورت ده. او مشاقه دَ شق نه ماخوذ دے چو دل او دوه ټکړے کیدلو ته وائي او دا په ښکاره مخالفت کولو کښں استعمالیږی. او دا سے په سورة انفال ٽ۱۳ کښں هم تیر شوی دی.

فائده:. سورة انفال کښں یٔے وَمَنْ يُّشَاقِقِ بغیر دَ ادغام نه او په دے سورت کښں په ادغام سره ذکر کړے دے وجه داده چه مخالفت کول دَ کتابیانو ډیر سخت دی په نسبت دَ عوامو کافرانو نو په سورة انفال کښں دَ عوامو کافرانو ذکر دے او په دے سورت کښں دَ کتابیانو ذکر دے ادغام دلالت کوی په شدت باندے او فکِ ادغام په تخفیف باندے.

ٽ۵ دا جواب دَ سوال دے هغه دا چه تاسو دَ فساد نه منع کوئے او حال دا دے چه تاسو (اے صحابو) دَ بنی نضیرو دَ کجورو اونے اوسیزلے او پرے مو کړلے نو دا هم فساد دے؟

حاصل دَ جواب دا دے چه دا په حکم دَ اللہ تعالیٰ سره شوی دی او نورے فائدے پکښں هم دی نو دا شرعاً جائز دی - مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ قرطبی پدیکښں لس اقوال ذکر کړی دی. حاصل دا چه ټولو قسمونو دَ کجورو ته ویلے کیږی یا په هغوی کښں خاص قِسم دے او دا په بویره مقام کښں وے او دَ دے په باره کښں یهودیانو او مشرکینِ مکه شعرونه ویلے وو او حسان بن ثابت رضی الله عنه دَ هغے په جواب کښں دا شعرونه جوړ کړے وو. (رپاتے په بل مخ)

وَمَآ أَفَآءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ

او هغه مالونه چه واپس کړیدی الله تعالیٰ په رسول خپل باندے دَ دوی نه نو نه دی زغلولے تاسو

عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ

په هغے باندے هیڅ اسونه او نه اوښان او لیکن الله تعالیٰ

يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۚ وَاللَّهُ عَلَىٰ

زورآورکوی رسولان خپل په هغه چا باندے چه اوغواړی او الله تعالیٰ په

كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ⑥ مَّآ أَفَآءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ

هر څیز باندے قدرت والا دے. هغه چه واپس کړے دی الله تعالیٰ خپل رسول ته

تَعَاقَدَ مَعْشَرٌ نَصَرُوا قُرَيْشًا - وَلَيْسَ لَهُمْ بِبَلْدَتِهِمْ نَصِيرٌ - هُموا أُوتُوا الْكِتَابَ فَضَيَّعُوهُ - وَهُمْ عُمْيٌ مِنَ التوراة بُور - كَفَرْتُمْ بِالْقُرْآنِ وَقَدْ أَتَيْتُمْ بِتَصْدِيقِ الَّذِي قَالَ النَّذِيرُ - وَهَانَ عَلَى سَرَاةِ بَنِي لُؤَيٍّ - حَرِيقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيرُ.

وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ دا یو حکمت دَ دغه عمل دے لیکن امتثال دَ امرِ شرعی دَ حکمت دَ هغے نه مخکښ وی. یعنی په شرعی حکم به عمل ضرور کیدیشی اګرچه حکمت ئے معلوم نه وی.

سلا هر کله چه مالونه پاتے شوے دَ بنی نضیر و نه مالِ فئ وو نو په دے ایت کښ دَ هغے او دَ مالِ غنیمت په مینځ کښ فرق ذکر کوی.

وَمَآ أَفَآءَ اللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ فئ په اصل کښ واپس کیدل دی خپل زور مکان ته لکه فئ دَ زوال. نو اشاره ده چه دَ دے مالونو اصل مستحق نبی صلی الله علیه وسلم او مؤمنان دی لیکن کافرانو په زور او ظلم سره قبضه کړیدی یا دا چه الله تعالیٰ دوی ته لګ وخت دَ امتحان دَ پاره ورکړیدی او بیا ئے ترینه واپس اخلی.

فَمَآ أَوْجَفْتُمْ دا علت قائم دے په ځائے دَ جزاء محذوف یعنی فَلَا اِسْتِحْقَاقَ فِيهِ لِلْمُجَاهِدِينَ (په دے کښ حق دَ عامو مجاهدینو نیشته) ځکه چه تاسو په زور دَ جنګ سره دَ کافرانو نه نه دی اخستلے. نو کوم مال چه دَ کافرانو نه بغیر دَ جنګ نه حاصل شی نو هغه مالِ فئ وی لکه مالونه دَ بنی نضیر. دا رنګ چه دَ کافرانو نه جزیه او اخراج حاصل شی یا دَ هغوی نه څه مال بے وارثه پاتے شی

مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي

دَ كلو والو نه نو خاص دَ الله تعالىٰ دَپاره دى او دَ رسول صلى الله عليه وسلم دَپاره او دَ

الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ

خپلوانو دَ هغه دَپاره او دَ يتيمانو او مسكينانو او مسافرو دَپاره دى

كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ

دَ دے دَپاره چه نه وى ادل بدل كيدونكے په مينځ دَ مالدارو كښ ستاسو نه

وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ

او هغه څيز چه دركړيدے رسول صلى الله عليه وسلم نو او نيسئ هغه او هغه څيز چه منع كړى ئے تاسو

عَنْهُ فَانْتَهُوْا وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

دَ هغے نه نو منع شئ او ويره كوئے دَ الله تعالىٰ نه يقيناً الله تعالىٰ سخت

الْعِقَابِ ۞ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ

عذاب وركوونكے دے. (دا مالونه) دَپاره دَ فقيرانو مهاجرينو دى هغه كسان

نو ديته هم مالِ فئ ويلے كيږى او كوم مال چه دَ كافرانو نه په جنګ سره حاصل شى
نو هغے ته مالِ غنيمت ويلے كيږى دَ هغے تقسيم ئے په سورة انفال ۳۱ كښ
ذكر كړيدے. وَلَا رِكَابٍ جمع دَ راكبة ده او په عرف دَ عربو كښ دَ دے
اطلاق صرف په راكب دَ اوښ باندے كيږى او دَ آس راكب ته فارس وائى.
معلومه شوه چه صحابه كرام دَ بنى نضيرو كلو ته پيا ده تللى وو مګر نبي صلى الله
عليه وسلم په اوښ يا په حمار باندے سور روغلے وو. يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ يعنى
دَ رعب دَ رسول دَ وجے نه هغه خلقو خپل مالونه پريخودلے دى لكه چه
مخكښ تير شويدى.
ک په دے ايت كښ مصارف دَ مالِ فئ ذكر كوى روستو دَ ذكر دَ غير
مستحقينو او رد دے په طريقه دَ جاهليت باندے. مِنْ أَهْلِ الْقُرٰى
كلى دَ بنى نضير او فدك او بعض كلى دَ بنى قريظه او (پاكے په بل مخ)

أُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُوْنَ

ویستلے شوے دی	دَ	کورونو خپلو	او	مالونو خپلو نه	لټوی دوی

خیبر وغیره۔ فَلِلّٰهِ مراد دَ دے نه اختیار او تصرف دَ اللّٰه تعالیٰ دے او لام دَ تصرف مستقل دَ پاره دے۔ وَلِلرَّسُوْلِ دا لام دَ استحقاق او دَ اختیار دَ تقسیم دَ پاره دے۔ یعنی رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم خپل خرچ او دَ اهل خرچه په دَ دے مال نه کوله او باقی به ئے تقسیمولو۔ وَلِذِی الْقُرْبٰی دا لام صرف دَ استحقاق په طور دَ مصرف سره دے او مراد دَدوی نه مؤمنان دَ بنی هاشم او بنی مطلب دی اګرچه اغنیاء وی دَ اَلْيَتٰمٰى نه مراد نا بالغ مذکر او مؤنث دَ چه پلار ئے مړ وی اګرچه مور ئے ژوندے وی۔ وَالْمَسٰكِيْنِ دا لفظ فقراء ته هم شامل دَ او کله چه دا دواړه لفظونه په یو ځائے کښ ذکر کړے شی نو بیا ئے فرق کیدیشی لکه په سورة توبه سئے کښ۔ وَابْنِ السَّبِيْلِ مراد دَ دینه مسافر دَے اګرچه په وطن کښ مالدار وی لیکن په سفر کښ محتاج ګرځیدلے وی۔ دا مصارف ئے په سورة انفال کښ هم ذکر کړے دی لیکن هلته دَ دوی حق صرف په خمس دَ غنیمت کښ وو یعنی په ټول غنیمت کښ حق نه لری او په مالِ فئ کښ دَ دوی حق مطلق دے روستو دَ تخمیس نه یعنی خمس دَ نبی صلی اللّٰه علیه وسلم او باقی څلور حصے دَ دے څلورو قسمونو دَ پاره دی۔ او دا قول غوره دے اګرچه یو قول دا دے چه دلته دَ دوی حق پشان دَ خمس دَ غنیمت دے یعنی خمس الخمس خو هغه قول مرجوح دے۔ كَيْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْ په دے جمله کښ رد دے په رسم دَ جاهلیت باندے په باره دَ مالِ فئ کښ ځکه چه په جاهلیت کښ مالِ فئ او مالِ غنیمت کښ به پوره څلورمه حصه دَ رئیس دَ هغوی وه دَ دے وجے نه هغه ته به مرباع یا ربیع القوم ویلے کیدلو او باقی درے حصو کښ به هم دَ هغه اختیار وؤ که چاله به ئے ورکولے او که نه ورکولے او اکثر به ئے مالدارو کښ تقسیمولے او دا دلالت کوی چه په اسلام کښ سرمایه دارانه نظام نیشته لکه چه په دیکښ سوشلستی نظام هم نیشته بلکه هرچا ته به که مالدار وی او که غریب وی دَ هغه حق شرعی ورکیدلے شی۔ دُوْلَةًۢ په پیښ دَ دال سره هغه مالونه چه اوړی راوړی په مینځ دَ خلقو کښ او دا اسم دے۔ او په

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ

فضل دَ الله تعالىٰ او رضا دَ هغه او مددگوي دوى دَ الله تعالىٰ

زور دَ دال سره په جنگ کښې غالب کيدل او تسلط او بادشاهئ ته ويلے کيږي او دا مصدر دے۔ وَمَآ اٰتٰكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ الاٰية دا لفظ عام دے ټولو اوامرو دَ قرآن او سنت ته او مال فئ پکښې داخل دے۔
او ما امرکم يئ نه دى ويلے دَ پاره دَ دے چه شامل شي هر هغه قول او فعل او حال ته چه دَ صحيح حديث نه ثابت وى نو کوم عمل چه نبي صلى الله عليه وسلّم هميشه دَ پاره ترك کړے وى نو مونږ به هغه ترک کوؤ دغه حال هم په ما اٰتاکم کښې داخل دے لکه چه ملا على قارى په مرقات شرح مشکوٰة ص۱۷ کښې ليکلى دے لکه هر قسم بدعات چه نبي صلى الله عليه وسلّم کړے نه وى او هغې ته يئ خصوصى ترغيب هم نه دے ورکړے نو دَ هغې پريخودل سنت دى او دَ دے تعميم دَ پاره دليلونه دادى، اول دليل حديث دَ صحيحين دَ ابوهريره رضى الله عنه دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلّم فرمائيلى دى "هرکله چه څه تاسو ته څه امر اوکړم نو په هغې باندے دَ خپل استطاعت موافق عمل کوئ او دَ کوم څيز نه چه ما نهى کړے دة نو دَ هغې نه ځان بچ اوساتئ" (بخارى کتاب الاعتصام او مسلم کتاب الفضائل باب توقير رسول الله صلى الله عليه وسلّم) - دويم حديث دَ ابن مسعود رضى الله عنه دے چه صحيح مسلم کښې راورے دے چه هغه په خالونو لګوؤنکو زنانو او دَ مخ نه ويښته ويستونکو او غابنونه فراخوؤنکو زنانو باندے لعنت دَ الله تعالىٰ ذکر کړو نو يو زنانه دَ بني اسد قبيلے چه نوم يئ ام يعقوب وه ورپسے راغله ورته يئ اُويل چه تا ولے لعنت کړے دے په فلانکے فلانکے زنانه باندے هغه اوفرمائيل "ايا څه په لعنت نه کوم په هغه چا چه رسول الله صلى الله عليه وسلّم په هغوى باندے لعنت کړے وى او دَ الله تعالىٰ په کتاب کښې وى نو هغې اويل چه ما خو ټول قرآن لوستلے دے او دا مسئله مِ پکښې نه ده موندلے هغه ورته اُويل که تا (صحيح) لوستلے وے نو تا به پکښې دا مسئله موندلے وه ايا دا ايت تا نه دے لوستلے وما اٰتاکم الرسول فخذوه الاٰية - دريم دليل هم دَ ابن مسعود رضى الله عنه روايت دے په باره دَ حکم دَ محرم کښې رپائے په بل مخ)

وَرَسُولَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۚ ⑧

او دَ رسول دَ هغه	دغه کسان	دوی	رشتني	دي ـ

چه کښې لے جاۓ ویستل په هغه باندے لازم دی او دا ایت ئے په دلیل کښې ذکر کړیدے دا قرطبي ذکر کړیدے خلورم قول دَ امام شافعي رحمة الله علیه په باره دَ جواز دَ قتل کولو د محرم کښې مچ لره دائے دَ دے ایت او دَ یو حدیث نه ثابت کړیدے چه په هغې کښې اتباع دَ قول دَ عمر رضی الله عنه سره ئے اثبات کړیدے او دَ دے ایت دَلالت ئے داخل کړیدے دا قرطبي ذکر کړیدی پنځم دلیل نسائي کښې حدیث دَ ابن عمر او ابن عباس رضی الله عنهما راوړے دے او ابن کثیر نقل کړیدے. شپږم دلیل دَ ما اتاکم په مقابله کښې ما نهاکم راوړے دے دلیل دے چه تمام اوامر دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دی. دا ټول دلیلونه دلالت کوی چه څوک ما اتاکم لره په مالِ فئ پورے خاص کوی او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ اتباع دَ حدیث نه انکار کوی لکه منکرین حدیث نو دوی ګمراه دی او دَ دوی دا استدلال باطل دے چه دوی وائي چه ایتاء صرف په مالونو او محسوساتو کښې استعمالیږی وجه دا ده چه استعمال دَ ایتاء په غیر دَ مالونو کښې هم شوید لکه په سورة اعراف ۱۳۲ او ۲۰۳ سورة انبیاء ۳ غافر ۵ انعام ۳ او نور هم ډیر دی) او په دے ایت کښې رد دے په بدعاتیانو باندے چه هغوی دَ بدعاتو دَ جواز دَ پاره وائي چه سنت دَ نبي صلی الله علیه وسلم امر دے او نهي ده او په بدعاتو کښې (چه دوی ئے کوی) نهي نیشته حاصل دَ رد دا دے چه سنت دَ نبي صلی الله علیه وسلم دَ امر و نهي نه علاوه ترک ته هم شامل دے نو ترک دَ نبي صلی الله علیه وسلم یو عمل لره دلیل دے دَ هغې په نهي باندے او دا دَ ما اتاکم دَلالت نه داخل دے لکه چه مخکښې ذکر کړے شول ـ

ف په دے یکښې اصل مستحقین دَ مالِ فئ ذکر کوی چه هغه درے قسمه دی او علت دَ استحقاق ته اشاره کوی او صفات دَ مهاجرینو پنځه ذکر کوی ـ

للفقراء بدل دے دَ لِذِی القربٰی نه یا مبتدا محذوف ده یعنی اَمْوَالُ الْفَیْءِ لِلْفُقَرَاءِ او دا صفات دَ مهاجرینو په اول وخت کښې وُو روستو اکثر مالداره شول ـ الَّذِیْنَ اُخْرِجُوا اه په دے وصف کښې اشاره ده چه حقیقي مهاجرین

وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْإِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او هغه کسان چه اباد شویدی په کورونو کښې (او حاصل کړیدے) ایمان مخکښې د راتللو د مهاجرینو نه

يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ

مينه کوی د هغه چا سره چه هجرت کوی دوی ته او دوی نه موی

فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ

په خپلو سينو کښې د هغه څيز نه چه ورکړے شی (مهاجرينوته) او غوره کوی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۗ

په خپلو ځانونو باندے (مهاجرينو لره) اگر چه وی په دوی باندے لوږه

وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿٩﴾

او څوک چه بچ اوساتلے شو د حرص د نفس نه نو دغه کسان دوی کامياب دی.

مراد دی ځکه چه مهاجرخو هغه چاته هم ويلے شی چه د ګنا هونو نه ځان ساتی.
مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ اشاره ده چه کورونه او مالونه د دوی وو ليکن د
هغے نه په هجرت کولو سره دوی فقيران شول ځکه چه د دوی د قبضے او د
تصرف نه بهر شول ، او ملکيت د دوی د هغے نه زائل شويدے يا نه د
زائل شوے دا د دے نه نه معلوميږی - او اهل اولاد خو اکثر د مهاجرينو
سره يو ځائے وو په هجرت کښې د دے وجے نه د هغوی ذکر ئے او نکړو -
يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا اه مراد د دے نه اجر او ثواب دے او رضوان د الله تعالیٰ
مستقل نعمت دے - وَيَنْصُرُوْنَ اه يعنی روستو د هجرت نه دعوت او
جهاد کول ئے نه دی پريخودلی بلکه هغه جاری ساتی -
اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ معلومه شوه چه هجرت او نصرت د دين د الله تعالیٰ
دليل د صدق د ايمان دے -
سے دا عطف دے په المهاجرين باندے او بيا يکښې پنځه صفات د انصارو
ذکر کوی او دوی لره هم حصه ده په مال فئ کښې - تَبَوَّؤُ الدَّارَ الف لام
عهدی دی يعنی دار د هجرت او د نصرت - (ياتے په بل مخ)

وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ

او هغه کسان چه راغی روستو د دوی نه دوی وائی

وَالْاِيْمَانَ هرکله چه تبوؤ د ايمان سره تعلق نه لري نو معلومه شوه چه دلته فعل پټ دے يعنی حصلوا الايمان يا تبوؤ په معنٰی د لزوم سره دے نو ايمان سره مناسبت لري۔ مِنْ قَبْلِهِمْ مراد د دے نه قَبْلَ هِجْرَتِهِمْ دے يعنی د مهاجرينو مدينے ته د راتللو نه وړاندے انصارو مدينه کښ سکونت کوؤ او اکثرو ايمان راوړے وؤ ځکه د دوی دوه وفدونو مکے کښ د نبی صلی الله عليه وسلم سره بيعت د عقبے کړے وؤ او بيا د هغوی په دعوت سره اکثرو مدينے والو ايمان راوړے وؤ ۔ يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ داجمله ئے په طريقه د حال سره ذکر کړله اشاره ده چه د ايمان سره محبت د مهاجرينو ملګرے وؤ او مراد د محبت نه محبت د زړونو دے او امداد کول د هغوی سره په نفسونو او مالونو سره دے۔

وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مراد د حَاجَةً نه حسد، بغض او غش او خفګان دے ۔ مِمَّآ اُوْتُوا ضمير راجع دے مهاجرينو ته يعنی مهاجرينو ته چه مالِ فیٔ زکوٰة وغيره ډير ورکړيشی او عزت او مرتبه ورکړے شويده نو انصار په هغے باندے هيڅ خفګان او حسد نه کوی يا دا ضمير راجع دے انصارو ته يعنی چه دوی لره هرځومره مال فیٔ وغيره ورکړيشی اګرچه لګ وی ليکن دوی په هغے سره خفګان نه کوی۔

وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ دا دليل د محبت او عدم حسد او د اخلاص د انصارو دے۔ يعنی حاجتونه د مهاجرينو په خپلو حاجتونو باندے مخکښ کوی۔ ايثار مخکښ کول د بل شخص دی په ځان باندے په دنيوی برخو کښ د پاره د حاصلولو د اخروی برخو او دا دليل دے د کمال يقين او د پوره محبت۔ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ کښ اشاره ده چه د دوی نفسانی خواهشات په دے ايثار کښ بالکل مغلوب شويدی ؛ خَصَاصَةٌ نفس احتياج او ضرورت او لوږے ته ويلے کيږی يعنی د دوی

رَبَّنَا اغْفِرْلَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا

اے ربه زمونږ . بخښه اوکړے مونږته او رونړو زمونږ ته هغه چه مخکښې زمونږنه يې حاصل کړے دے

ايثار دَ وجے دَ استغناء نه نه دے بلکه سرهٔ دَ احتياج نه دَ محبت دَ وجے نه دے
اودَ انصارو دَ ايثار ډيرو واقعات په احاديثو کښې راغلے دی او مفسرينو ډيرے
قصے ليکلے دی او دَ يؤثرون مفعول يې حذف کړے دے دَ تعميم دَ پاره يعنی
يؤثرون باموالهم وانفسهم . او ايثار دَ نفس ډير اوچت دے په ايثار دَ
مال باندے لکه چه ابو طلحه رضی الله عنه په خپل لاس سره په اُحد کښې
نبی صلی الله عليه وسلم له بچ کووٴ او غشی دَ دشمنانو به دَ هغه په لاس باندے
لګيدل نو لاس يې شل شويوٴ.
او قرطبی دَ ابويزيد البسطامی نه نقل کړيدے چه دَ بلخ يو نوجوان په ما
باندے غالب شويوٴ هغه حج له راغلے ووٴ نو ما نه يې تپوس اوکړو چه
ستاسو په نيز زُهد څه ته وئيلے کيږی نو ما ورته اُويل چه خوراک مونږ ته
ملاوٴ شی نو خورو او که نه ملاويږی نو صبر کووٴ نو هغه راته اُويل چه داسے
خو په بلخ کښې سپی هم دی نو ما ورته اُويل چه ستاسو په نيز زهد څه ته
وئيلے شی نو هغه راته اويل چه مونږ ته ملاويږی نو هم شکر کووٴ او چه
ملاوٴ شی نو ايثار کووٴ يعنی بل محتاج ته يې ورکووٴ.
وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ په دے کښې اشاره ده چه دا تير شوی اوصاف دليل
دے چه انصارو کښې شح او بخل نووٴ او دوی مستحق دَ فلاح دی.
شح او بخل کښې فرق دا دے چه بخل عام دے که طبيعت کرځيدلے
وی يا نه وی او شح دا چه حرص دَ انسان طبيعت اوګرځی. دَ دے وجے نه
سورة النساء سـ۱۲۸ کښې واحضرت الانفس الشُحَّ فرمائيلے دی. او ابن جرير
وئيلے دی شح دا دے چه پردی مالونه په ظلم سره خوری او بُخل دا دے
چه خپل مال بل چا له نه ورکوی. شربينی دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه
نقل کړيدی چه شح دا دے چه پردی مالونو ته ګوری چه په څه طريقے
سره يې حاصل کړی. طاؤس وئيلے دی چه شح دا دے چه خپل مال نه
ورکوی او دَ پردی مالونو حاصلولو کوشش کوی. ابن کثير حديث دَ امام احمد
نه نقل کړيدے چه شح او ايمان په زړه دَ بنده کښې چرے نه جمع کيږی.

بِالْإِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا

ایمان لره او مه اچوے په زړونو زمونږ کښې خفګان

لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠﴾ ع

دَ هغه چا ته چه ایمان ئې راوړے دَ اے ربه زمونږ یقینًا ته شفقت کوونکے رحم کوونکے ئې۔

ف: په دے کښې دریم قسم خلق ذکر کوی چه دَ هغوی په مال فئ کښې حق دے چه هغه تابعداری کوونکی او دُعاء کوونکی دی صحابه کرامو (مهاجرینو او انصارو) ته ترقیامته پورے او دا درے واړه قسمونه په سورة توبه ښا کښې هم ذکر کوی۔ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ راتلل وجود ته یا راتلل ایمان ته مراد دی۔
وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ مراد دَ اخوت نه ایمانی اخوّت دے په دلیل دَ الذین سبقونا بالایمان سره او دا لفظ شامل دے ټولو مؤمنانو ته عمومًا چه دَ هر نبی په امت کښې وی او خصوصًا صحابه کرامو زمونږ دَ نبی صلی الله علیه وسلّم ته۔ غِلًّا طبعی خفګان ته ویلے کیږی او دا ادنیٰ خیز دے په نسبت دَ حسد او بغض سره نو ازاله دَ ادنیٰ مستلزم ده ازالے دَ اعلیٰ لره۔ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا په دے کښې قید دَ سبقونا نه دے ذکر کړے اشاره ده زیات عموم ته که تیر شوی مؤمنان وی او که موجوده وی۔ قرطبی ویلے دی چه دا آیت دلیل دے چه محبت دَ صحابه کرامو سره واجب دے ځکه چه شرط دَ حق دَ فئ دَ پاره دَ هغوی استغفار او عدم غِل ئې ګرځولے دے نو څوک چه ټولو صحابو یا یو دَ هغوی ته بد وینا کوی یا ورسره بغض کوی نو هغه لره په مالِ فئ کښې حق نیشته او امام مالک رحمة الله علیه دَ دے آیت نه خائسته استدلال کړے دے ویلے دی چه څوک دَ یو صحابی سره بغض کوی یا په زړه کښې غِل لری نو په فئ دَ مسلمانانو کښې دَ هغه هیڅ حق نیشته۔
او ابن کثیر او قرطبی دَ عائشه رضی الله عنها نه روایت نقل کړے دے "چه تاسو ته امر کړے شوید دے چه صحابو دَ پاره استغفار غواړئ نو تاسو ورته کنځل او بد رد وئیل شورو کړل" او دا آیت ئې اولوستلو۔
او امام شعبی نه نقل دے چه یهود او نصاریٰ دَ شیعګانو نه په یو خصلت سره غوره دی هغه دا دے چه یهودیانو نه تپوس اوکړے شو

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ

آیا نه گورے هغه کسانو ته چه منافقت ئے کړیدے وائی

لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ

دوړو خپلو ته هغه کسان چه کفر ئے کړیدے دَ کتابیانو نه

الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ

که چرے اُوبستلے شوئے تاسو ضرور موږ به اُوځو تاسو سره

وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ

او خبره نه منو موږ ستاسو په باره کښ دَ هيچا هيڅ چرے او که تاسو سره جنګ کيدے شی

لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ⑪

ضرور به موږ ستاسو مدد کوؤ۔ او الله تعالیٰ ګواهی کوی چه یقینًا دوی دروغژن دی۔

چه ستاسو په ملت کښ ښوک غوره دی هغوی اُویل اصحاب دَ موسٰی علیه السّلام او دَ نصارٰی نه تپوس اوکړے شو چه ستاسو په ملت کښ ښوک غوره دی نو هغوی اُویل اصحاب دَ عیسٰی علیه السّلام او دَ روافضو نه تپوس اوکړے شو چه ستاسو په ملت کښ شریان ښوک دی نو دوی وائی اصحاب دَ محمّد صلّی الله علیه وسلّم. او دَ مصعب بن سعد نه روایت دے چه خلق په درے قسمه دی (مهاجرین، انصار) دا دواړه خو تیر شویدی او دریم قسم (تابعون باحسان) دا اوس هم باقی دی نو ځان په دے قسم کښ داخل کړئ یعنی دَ صحابه کرامو سره بغض مه کوئ او دَ هغوی تابعداری کوئ او دا سے قول دَ ابن ابی لیلٰی نه هم نقل دے۔

سلا دَ دے ایت نه دویم باب دے دَ اخر دَ سورت پورے په دے باب کښ دیارلس قباحتونه دَ منافقینو ذکر کوی دا هغه قباحتونه دی چه دَ اجلاء دَ بنی نضیرو په وخت کښ منافقانو کښ ښکاره شول۔ او زجرونه دَ منافقانو ته او دَ دوی دَ قباحت ښکاره کولو دَپاره دوه مثالونه ذکر کوی۔ بیا امر دے مؤمنانو ته په تقوٰی سره او تحذیر دے دَ مشابهت (پاتے په بل مخ)

لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ

که چرے اُو یستلے شی هغوی نو دوی نه او ځي دَ هغوی سره او که چرے

قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ

جنگ کیدلے شي دَ دوی سره نو دوی مدد نه کوی دَ هغوی سره او که چرے دوی ورسره مدد اوکړی

لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۟ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝۱۲

خامخا او به گرځوی شا گانے بیا به دَ دوی سره امداد نشی کیدے ۔

دَ منافقانو او کافرانو سره او بیان دَ فرق دَ دوی دے بیا ترغیب دے قرآن ته دَ پاره دَ حصول دَ خشیت او اختتام دے په ذکر دَ مسئلے دَ توحید سره په اسماء او صفاتو دَ الله تعالیٰ، او دا مقصد دَ خشیت دے۔ هرکله چه دَ مؤمنانو احوال یې ذکر کړل نو اوس په رسالے کښ زجر دے منافقانو ته په ذکر دَ درے قبائحو دَ هغوی اول نفاق - دویم وعده دَ موافقت او نصرت دَ یهودیانو سره دریم کذب دَ دوی ۔

کا فقوا په دے کښ اشاره ده چه دا روستو اوصاف ټول دَ نفاق دَ وجے نه دی لِاِخْوَانِهِمْ هغوی سره اخوت دَ اعتقاد او دَ دوستانے دَ وجے نه دے - الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مراد دَ دینه بنو نضیر دی ۔ اَحَدًا مراد دَ دے نه محمد صلی الله علیه وسلم دے یعنی که چرے دے مونږ ته ستاسو دَ قتال یا اخراج یا تذلیل په باره کښ امر کوی نو مونږ دَ ده امر نه منو لَكٰذِبُوْنَ كذب په دے وجے سره دے چه دوی دا وعده په خُلے سره کوی او په زړه کښ اراده دَ وفا نیشته یا دَ دے وجے نه چه دوی دا کار نشی کولے هسے وائي ۔

۱۲ په دے کښ اثبات دَ کذب دَ دوی دے او دَ منافقانو څلور حالات ذکر کوی - دَ اُخْرِجُوْا او قُوْتِلُوْا او مَعَهُمْ او هُمْ ضمیرونه یهودیانو ته راجع دی او ضمیرونه دَ لَا يَخْرُجُوْنَ او لَا يَنْصُرُوْنَ او نَصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ او لَا يُنْصَرُوْنَ راجع دی منافقانو ته ۔

او لَا يَنْصُرُوْنَ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ کښ فرق دا دے چه په خوشحالئ سره دَ دوی مدد نه کوی او که مجبوره کړے شي دَ هغوی مدد کو لو نه

لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ

خامخا تاسو ډیر سخت رعب والا یئ په سینو د دوی کښی

مِّنَ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ⑬

د الله تعالیٰ د طرف نه دا په دے وجه چه دوی داسے قوم دے چه صحیح پوهه نه لري۔

لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ

جنګ نشی کولے دوی تاسو سره په یو ځائے مګر چه کلو قلعه بند و کښی وی

اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ۭ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ ۭ

یا شا نه د دیوالونو جنګ د دوی (د دوی) په کورنئے ډیر سخت دے

تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ۭ ذٰلِكَ

ګمان کوئے تاسو په دوی باندے یو ځائے او حال دا چه زړونه د دوی د یو بل نه خلاف دی دا د دے

نو شا ګانے به اوګرځوی یا دا چه ضمیر فاعل د لَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ راجع دے یهودیانو ته او ضمیر د هُمْ راجع دے منافقانو ته یعنی که چرے یهودیان د منافقانو امداد اوکړی نو دا یهودیان به په شا اوګرځی. ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ مراد د دے نه نفی ده د دوی د هرجانب نه۔

سلا دا علت د پاره د ما قبل دے او په دیکښ د منافقانو دوه صفتونه ذکر کوی فِيْ صُدُوْرِهِمْ ضمیر منافقانو او یهودیانو دواړو ته راجع دے۔

مِنَ اللّٰهِ لکه چه سورة نساء ۷۷ کښ دی. ځکه چه عذاب د الله تعالیٰ روستووی دا رنګ په الله تعالیٰ باندے یقین نه لری نو د دے وجے د هغه نه دومره نه و یریږی لکه څنګه چه ستا نه و یریږی۔

رَهْبَةً هغه سخته ویره ده چه سره د اضطراب او د غم نه وی۔

لَا يَفْقَهُوْنَ دا رنګ سورة نساء ۷۸ او سورة توبه ۸۷ کښ دی۔

فقه د کلام په ظاهری مفهوم او د هغے په اشاراتو او حکمتونو باندے پوهیدل دی او دا د علم او معرفت او فهم نه اوچته درجه ده۔

بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿۱۴﴾ كَمَثَلِ الَّذِينَ

وجه ئه چه دوی داسے قوم دے چه عقل نه لری - (حال د دوی) پشان د حال د هغه کسانو دے

۱۴ دا نتیجه ده د رهبت د دوی او په دے کښ د دوی څلور قبائح ذکر کوی.
لَا يُقَاتِلُونَكُمْ ضمیر منافقانو اویهودیانو دواړو ته راجع دے.
جَمِيعًا یعنی یو ائځ خو بالکل قتال نشی کولے لیکن که چرے تول یو ځائے شی نو هم نشی کولے.
إِلَّا فِي قُرًى الخ یعنی د ډیرے ویرے او بزدلی د وجے نه دوی مؤمنانو سره مخامخ قتال نشی کولے. او په خیبر کښ د دوی قتال په قلعه گانو کښ او د دیوالونو نه شاته وو د هغے استثناء ئے ځکه اوکړله. لیکن افسوس دے چه په اوس زمانه کښ مسلمانان د کافرانو نه ویریږی او جنګ ورسره نشی کولے دا د دے وجے نه چه اکثر مسلمانان هم د منافقانو په صفت او د مشرکانو په شان په شرک کښ اخته شویدی.
بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ یعنی د دوی کورنئ کښ دشمنی او اختلاف د یو بل سره ډیر دے یا دا چه کورنئ کښ د جنګ خبرے او ځان لره د جنګ کولو سخت صفتونه کوی.
تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَّقُلُوبُهُمْ شَتّٰى یعنی د مؤمنانو په مخالفت کښ متفق دی لیکن د دوی په عقیدو او خواهشاتو او ارادو کښ ډیر تفاوت او اختلاف دے. لیکن اختلاف د زړونو سره ظاهری اتحاد هیڅ فائده نه ورکوی لکه چه په نن زمانه کښ مختلف مسلکونو والا د یو بل سره اتحاد ظاهری اوکړی لیکن د هغے هیڅ صحیح نتیجه نه راوځی.
لَا يَعْقِلُونَ اشاره ده چه اختلاف د عقیدو او د مسلکونو او د خواهشاتو د وجے د نقصان د عقل نه دے. هرکله چه آراء او نظرئے د عقل سره تعلق لری نو د دے سره ئے لا یعقلون ذکر کړو او رهبت د عظمت او عذاب د طرف د الله تعالیٰ نه د کمال علم سره تعلق لری نو مخکښ ئے لا یفقهون ذکر کړے وو.

مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ ۚ

چه دَ دوی نه مخکښ وو په نزدے زمانه کښ او څکله هغوی سزا دَ کار خپل

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۱۵﴾ كَمَثَلِ الشَّيْطَانِ

او دوی لره عذاب درد ناک دے۔ (حال دَ دوی) پشان دَ حال دَ شیطان دے

إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ

کله چه او وائی انسان ته کفر کوه نو هر کله چه هغه کفر اوکړی دے ورته اُو وائی

إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۶﴾

یقینًا زهٔ جدا یم ستا نه یقینًا زهٔ ویره کووم دَ الله تعالیٰ نه چه رب العالمین دے۔

ف۱۵ دا مثال دَ پاره دَ تخویف دَ نیوی دے منافقانو ته۔ او مَثَلُهُمْ لفظ پټ دے او اَلَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ نه مراد کفار قریش دی په بدر کښ او بنو قینقاع دَ یهودو چه دَ بنو نضیر نه مخکښ په دوی باندے دَ الله تعالیٰ عذاب راغے۔ وَبَالَ اَمْرِهِمْ امر نه مراد دَ دوی کفر او دَ حق سره دشمنی او دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره لوظ ماتول دی۔ وَبَالَ نه مراد قتل دَ کفار قریش دے په بدر کښ او اُویستل دوی دَ کورونو نه بنی قینقاع لره۔

ف۱۶ دا دویم مثال دے لیکن نه دے عطف کړے په ما قبل باندے ځکه اول مثال دَ عذاب دنیوی دے او دا مثال دَ دهوکے دَ منافقانو دے دَ یهودو (بنی نضیرو) سره۔ یا دا چه اول مثال دَ یهودیانو دے او دویم مثال دَ منافقانو دے نو دا دواړه مستقل مثالونه دی۔ شبه پدے مثال کښ دا ده چه منافقانو یهودیانو ته اُویل چه دَ دے نبی مخالفت کوئے او قتال ورسره کوئے مونږ به ستاسو مدد کوؤ او تاسو سره به دَ وطن نه اوځو لکه چه په ۱۱ کښ ذکر شول او یهودیان پدے قول دَ هغوی باندے دهوکه شول او په کفر باندے کلک شول او چه هر کله اویستلے شول نو منافقانو ترینه براءت اوکړو۔ او مشبه به په دے په قول دَ مجاهد سره هر انسان دے چه کفر او شرک او نفاق کوی په وسوسه دَ شیطان انسی یا جنّی سره او هر کله چه انسان کفر کښ کلک شی نو شیطان ترینه (پاتے په بل مخ)

فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ اَنَّهُمَا فِى النَّارِ خَالِدَيْنِ

نو شو عاقبت دَ دواړو چه يقيناً دوی به په اور کښې وی هميشه به وی

فِيْهَا ۚ وَ ذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ۞ ١٧ ع ٧ ٥

په هغې کښې او دا سزا دَ ظالمانو ده .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ

اے ايمان والو ويره کوئ دَ الله تعالىٰ نه او فکر دِ کوی

نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط

هر نفس دَ هغه عمل چه ليږی ئې دَ صباً دَ پاره او ويره کوئ دَ الله تعالىٰ نه

اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌ ۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۞ ١٨ وَلَا

يقيناً الله تعالىٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو يئ کوئ . او مه

براءت اوکړی په دے ويرے چه ما لره دَ دهٔ په عذاب کښې شريک نه کړی
ليکن دا براءت شيطان ته هيڅ فائده نه ورکوی بلکه دَ دواړو عاقبت به اور
دَ جهنم وی . او دويم قول دا دے چه مراد دَ اَلْاِنْسَانِ نه کفار قريش دی او
شيطان لمسولے دی په قتال دَ ورځ دَ بدر پاندے لکه چه سورة انفال ۴۸ کښې تير شويدی او پدے دواړه توجيهاتو باندے الانسان نه مراد جنس دَ
هر واحد او ديرو ته شامل دے . او دريم قول دا دے چه مراد دَ انسان
نه برصيصا راهب دے او دَ هغه واقعه ابن جرير او ابن کثير قرطبی وغيره
مفسرينو ليکلے ده اسرائيلی روايت دے تصديق يا تکذيب يئ نه کوؤ ليکن
اول قول غوره دے . اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ دے قول دَ شيطان کښې
خوف ايمانی مراد نه دے بلکه خوف طبعی يا خوف په دروغ دعویٰ سره دے
۱۸ روستو دَ بحث دَ منافقانو نه خطاب کوی مؤمنانو ته دِ دے دَ پاره چه ځان
بچ کړی دَ صفاتو دَ نفاق نه او پدے کښې درے اوامر او يو نهی ذکر کوی .
اول اتَّقُوا اللّٰهَ مراد دَ دے نه تقویٰ دَ ايمانيات ده يعنی دَ هر قسم شرک
او کفر نه ځان ساتل . دويم وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ يعنی دَ ځان سره

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ نَسُوا اللَّهَ فَأَنسَاهُمْ

کیږئ د هغه کسانو پشان چه هیر کړے دے الله تعالیٰ نو هیر کړل الله تعالیٰ د دوی نه

أَنفُسَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ⑲

نفسونه د دوی دغه کسان هم دوی پوره نافرمان دی۔

لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۚ

نه دی برابر اور والا او جنت والا

حساب کول او تمیز کول په مینځ د حق او باطل کښې لِغَدٍ مراد ترینه ورځ د حساب ده۔ غَدَ په محاوره د عرب کښې راتلونکی ورځ ته ویلے کیږی او اشاره ده چه دا ټول عمر د دُنیا پشان د یوے ورځے دے او صبا له قیامت دے. دریم وَاتَّقُوا اللَّهَ مراد د دے نه تقویٰ د اعمالو ده یعنی د اوامرو پابندی کول او د نواهی نه ځان ـ بچ کول او په دے دواړه اقسامو د تقوی کښې د صفاتو د یهودیانو او منافقانو نه ځان بچ کول داخل دی۔ خَبِيرٌ دا صفت علم د باطن او ظاهر دواړو ته شامل دے۔

۱۹ دا خلورم خطاب دے۔ مراد د دے نه مشابهت د کافرانو منافقانو مشرکانو نه په هره طریقے سره ځان ساتل دی که مشابهت په عقیده کښې وی او که په عمل او په اخلاقو کښې او که په صورت کښې او که په سیرت کښې وی او په غم او ښادے کښې او په لباس وغیره کښې۔ لکه چه د تشبیه د دوی نه منع کړیده په سورة آلعمران ۱۵۶ او په سورة احزاب ۶۹ کښې۔ نَسُوا اللَّهَ مضاف حذف دے یعنی ذکر الله یا عذاب الله او نسیان په معنیٰ د ترک عمداً سره دے لیکن هر کله چه د الله تعالیٰ ذکر پریخودلے شی او غفلت ترینه اوکړے شی نو بیا هیر شی د دے وجے نه تعبیر ترینه په نسیان سره شویدے۔ فَأَنسَاهُمْ أَنفُسَهُمْ جزا د جنس د عمل نه وی د دے وجے نه دا تعبیر اوکړے شو مراد د دے نه دا چه الله تعالیٰ دوی له توفیق د نیک عمل نه ورکوی او که نیک عمل وی نو ورسره شرک بدعت او ریاء وغیره ګډ وی نو د دوی نفسونو ته به په قیامت کښې هیڅ نفع ورنکړی۔ الْفَاسِقُونَ پوره فاسق هغه دے چه په عقیده او عمل دواړو کښې د دین د الله تعالیٰ نه وتلے وی او اشاره ده چه نسیان د ذکر الله سبب د فسق دے۔

أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾

جنت والا خاص دوی مراد دو نه حاصلوونکی دی (کامیاب دی) -

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ

که چرے مونږ نازل کړے وے دا قرآن په غر بانډے ضرور تا به لیدلے ووهغه

خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ

عاجزی کوونکے ټکړے کیدونکے د وجے د ویرے د الله تعالیٰ نه او دا

الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿۲۱﴾

مثالونه بیانوو مونږ دَپاره دَ خلقو دَ دے دَپاره چه دوی فکر اوکړی -

سنـ۲ دا علت دَ ماقبل دے یعنی مؤمنان دِ دَ مشابهت دَ کافرانو نه ځان دَ دے وجے نه بچ کړی چه دَ دوی عاقبت کښ پوره فرق دے - اَصْحٰبُ النَّارِ هغه دی چه الله تعالیٰ ئے هیر کړے دے او دَ یهودیت او منافقت اوصاف پکښ موجود دی -
وَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هغه کسان چه ځان ئے دَ او صافو او دَ تشبیه دَ کافرانو او منافقانو نه بچ ساتلے دے او دا عدم مساوات دَ فریقینو په سورة غافر سـ۵۸ او سورة جاثیه سـ۲۱ او سورة ص سـ۲۸ او سورة سجده سـ۱۸ کښ ذکر شویدے -
فائده :- ابو سعود تفسیر کښ ویلے دی چه اصحاب النار ئے دَ دے وجے نه مخکښ ذکر کړو چه سبب دَ عدم مساوات یعنی کوتاهی دَ جانب دَ دوی نه ده چه دوی په ځان کښ صفات دَ جنت والو نه دی پیدا کړی او دا رنګ اکثرا یا تونو دَ نفی دَ مساوات کښ جانب دَ نقصان والا مخکښ ذکر کړے دی او کله چه برعکس ذکر وی نو هلته بل حکمت وی چه په خپل ځائے ذکر کیدے شی - اَلْفَآئِزُوْنَ دا په مقابله دَ الخاسرون کښ استعمالیږی نو معلومه شوه چه په تیر شوی ایت کښ فسق چه سبب دَ خسران دے دَ خسران په ځائے ذکر شویدے -
سـ۲ په دے ایت کښ درے توجیهات دی اول دا چه عظمت دَ قرآن کریم ذکر کوی سره دَ زجر نه منکرینو ته حاصل دا چه که یو غر ته الله تعالیٰ فهم او عقل دَ انسان پشان ورکړے وے او په قرآن کریم سره ئے مکلف کړے وے او قرآن ئے وریٰ اورولے وے نو هغه به دَ خشوع او خشیت دَ

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَیْبِ

خاص هغه الله تعالیٰ دے داسے ذات چه نیشته حقدار د بندگۍ سوا د هغه نه عالم دے په هر پټ

وجے نه ټکړے شو یو ے اگرچه د ډیرو سختو کڼتو نه ډک دے لیکن انسان اعراض کوؤنکے دومره سخت زړے دے چه په قرآن سره په ده کښې اثر نه پیدا کیږی او مضمون د دے پشان د آیت د سورت بقرے ۷۴ دے۔ دویم توجیه دا ده چه په دے کښې ثقل د قرآن او احسان په نبی صلی الله علیه وسلم باندے ذکر کوی یعنی د قرآن کریم بوج او درونډوالے خو دومره دے چه غرونه د هغے برداشت نه شی کولے لیکن الله تعالیٰ خپل نبی صلی الله علیه وسلم لره دومره قوت ورکړے دے چه هغه د قرآن کریم د ثقل د نزول او د بوج د تبلیغ برداشت کوی لکه په سورة مزمل ۵ کښې ثقل ذکر دے او په سورة مریم ۹۷ او سورة دُخان ۵۸ کښې یُسر (آسانتیا) ئے ذکر کړے دے۔
دریمه توجیه دا ده چه په دے کښې ثقل د قرآن کریم او جواب سوال ذکر کوی سوال د مشرکینو او د یهودیانو دا وو چه دا قرآن په یو ځل په دے نبی باندے ولے نه نازلیږی؟ حاصل د جواب دا دے چه په یو ځل (په جمع) دا قرآن په غر باندے نازل شی نو هم ئے برداشت نه شی کولے ځکه چه د غر قوت د جسم ډیر زیات دے نو نبی صلی الله علیه وسلم د هغے برداشت څه رنګ کولے شی؟ د دے وجے نه الله تعالیٰ لګ لګ نازل کړو سره د دے نه چه بیا یه هم په نبی صلی الله علیه وسلم باندے په سختۍ سره کښې خوَلے راتللے۔ او په دے ټولو توجیهاتو سره ربط د آیت د ما قبل سره دا دے چه کافران یهود او منافقان وغیره د اصحاب النار د ډلے نه په دے قرآن سره وتلے شی په دے شرط چه په دے کښې فکر اوکړی او ایمان پرے راوړی او د قرآن په سبب الله تعالیٰ ته خشوع اوکړی او خشیت اوکړی۔
او بیا په دریمه توجیه باندے د القرآن نه نُزول قرآن په جمع سره مراد دے۔ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ یعنی په قرآن سره اول خشیت د الله تعالیٰ نه پیدا کیږی بیا د خشیت د وجے نه خشوع پیدا کیږی بیا خشوع چه ترقی اوکړی نو تصدّع پیدا کیږی. خشوع نه مراد تذلل کول دی په طاعت سره او تصدّع نه مراد ړیاتے په بل مخ)

وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾

او ښکاره پاندے	خاص هغه پوره مهربانی کوؤنکے	خاص رحمت والا دے		

ځودل دَ ویرے دَ ګناه او دَ عذاب نه۔
فائده :- په مؤمنانو کښ دَ دے مصداق په ترتیب سره دا دے چه په قیام دَ مونځ کښ قران لولی ځنیله او دَ امام نه ئے اوری په خشیت سره نو دَ هغے نه روستو خشوع اوکړی په رکوع کولو سره لکه چه حدیث کښ دَ خشوع اطلاق په رکوع باندے شوید ے او بیا دَ خشوع نه روستو تصدّع پیداشی په سجده کولو او په ژړا کولو سره۔
وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ اه پدیکښ اشاره ده چه ذکر دَ حال دَ غر په وخت دَ انزال کښ دَ تمثیل دَ پاره دے او دَ مثال دَ پاره امکان دَ هغه څیز کافی وی اګر چه وقوع او وجود کښ نه وی راغلے۔ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ تفکّر په مثال کښ دا دے چه په هغے کښ مُمَثَّلٌ لَهٗ او مُمَثَّلٌ بِهٖ او وجه دَ تمثیل معلومه کړی او بیا دَ هغے نه عبرت او وعظ حاصل کړی۔
۲۲ شریعتی په باره دَ ربط کښ ویلے دی چه عظمت دَ قران کریم ذکر شو او قران صفت دَ الله تعالی دے نو اوس عظمت دَ موصوف (چه الله تعالی دے) ذکر کوی ځکه چه عظمت دَ صفت دَ وجے دَ عظمت دَ موصوف نه دَے۔
دویم ربط دا دے چه خشیت او خشوع په قران سره هله حاصلیږی چه دَ الله تعالی اسماء حسنٰی او صفاتِ عُلیا او پیژنی او په دے دریے ایاتونو کښ دَ الله تعالی اسماء او صفات ئے په حذف دَ تکرار سره شل ذکر کړے دی۔
هُوَ ضمیر راجع نازلونکی دَ قران ته یا مرجع دَ دے هغه ذات دے چه موجود دے په ټولو ذهنونو او فکرونو کښ او غائب دے په اعتبار دَ عظمت شان خپل۔
اَللهُ دا خبر دَ هُوَ دے او دا اسم ذات دَ الله تعالی دے چه موصوف دے په راتلونکو صفتونو سره۔ اَلَّذِيْ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ دا اول صفت دے او مقصود په دے کښ اثبات دَ الوهیت په طریقه دَ اختصاص سره دے دَ پاره دَ الله تعالی په دلیل دَ علم دَ الله تعالی سره په هر څیز باندے چه دَ هغه دَ علم نه هیڅ څیز بهر نیشته دَ دے وجے نه ورپسے صفت دَ علم ئے ذکر کړے دے۔
عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ دا دویم صفت دے الغیب او الشهادة مصدرونه دی

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ

خاص هغه الله دے دا سے ذات دے چه نشته حقدار د بندگۍ سوا د هغه نه پوره بادشاه دے

الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَیْمِنُ الْعَزِیْزُ

ډیر پاک دے بچ دے د هر نقصان نه امن ورکوونکے ساتنه کوونکے دے عزت والا دے

الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِكُوْنَ ﴿۲۳﴾

زور کوونکے دے خاوند د لوئیے دے پاکی ده الله تعالیٰ لره د هغې نه چه دوی ورسره شریک جوړوی

په معنیٰ د اسم فاعل دی یعنی هغه څیزونه چه غائب دی د مخلوق نه او حاضر دی مخلوق ته. هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ دا دوه صفتونه یعنی تقسیم د عامو نعمتونو په دُنیا کښ او د خاص نعمتونو په دُنیا او اٰخرت کښ په علم د هغه سره دی. د دے مناسبت په وجه سره دا صفتونه ئے په یو ځائے ذکر کړل۔

۲۳ په دے کښ مقصد اثبات د الوهیت سره د اختصاص نه د الله تعالیٰ د پاره دے په دلیل د قدرت او تصرف د هغه سره په هر څیز کښ په هر جهت سره د دے وجے نه زیستو صفتونه د تصرف ئے ذکر کړیدی نو معلومه شوه چه د الوهیت د اثبات د پاره دوه قسمه صفتونه ضروری دی صفت د علم بکل شئ او صفت د قدرت علی کل شی او دا دواړه خلاصه ده د صفتونو د الله تعالیٰ. اَلْمَلِكُ تصرف او تدبیر کوونکے دے په تمام مخلوق کښ په امر و نهی سره او په خائسته نظام او ترتیب سره۔ اَلْقُدُّوْسُ ډیر پاک دے د هر نقصان او عیب نه په ذات او تمام صفاتو کښ او خصوصًا په خپله بادشاهئ چلولو کښ اَلسَّلٰمُ سالم او بچ دے د عارض کیدلو د هر نقصان او عیب نه په ذات او صفاتو کښ نو فرق د قدوس او سلام دا دے چه ذاتی او اصلی نقصان پکښ نیشته نو قدوس دے او عارضی نقصان او عیب هم پکښ نشی راتلے نو سلام دے ،

یا سلامتیا ورکوونکے بندګانو ته هر کله چه او غواړی ، یا سلامتیا ورکوونکے د ظلم کولو نه یعنی ظلم په هیچا نه کوی ۔ اَلْمُؤْمِنُ امن ورکوونکے دوستانو خپلو ته د عذاب نه او ټولو خلقو ته د خوف د ظلم کولو نه ۔ نو فرق د السلام په روسته معنیٰ سره او المؤمن دا دے چه السلام کښ اشاره ده چه معامله د ظلم د هیچا سره نه کوی او المؤمن کښ اشاره ده چه د خوف د ظلم (پاتے په بل مخ)

هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَآءُ

خاص هغه الله تعالیٰ دے پیدا کوونکے دے جدا جدا کوونکے شکلونه ورکوونکے دے خاص هغه لره نومونه دی

نه ئے امن ورکړے دے ۔ یا اَلْمُؤْمِنُ بنکاره کوونکے دَ توحید خپل دے په خپل شهادت سره چه (شهد الله انه لا اله الا هو) او په دلیلونو سره ، دا معنیٰ دَ مجاهد نه نقل ده ۔ یا تصدیق کوونکے دَ رسولانو خپلو په معجزاتو سره او دَ مؤمنانو په ثواب ورکولو سره ۔ اَلْمُهَيْمِنُ ساتنه کوونکے دَ ټول مخلوق او دَ هغوی دَ عملونو دے لکه " اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ " (رعد ۳۳) ۔
یعنی سلامتیا او امن دَ دے وجے نه ورکوی شی چه حافظ او ساتنه کوونکے دَ مخلوق دے ۔ اَلْعَزِيْزُ ، ساتنه ځکه کولے شی چه غالب دے په هغه کار چه اوغواړی او هیڅوک هغه لره دَ خپلے ارادے نه نشی منع کولے عزت والا دے بے مثاله بے نظیره دے ۔ اَلْجَبَّارُ ابن قیم په قصیده نونیه کښ دَ دے درے معانی ذکر کړیدی او هغے ته قرطبی هم اشاره کړیده ۔ اوله معنیٰ جبر په معنیٰ دَ اصلاح سره یعنی دَ خپل مخلوق دَ کمزورئ او دَ بیمارو اصلاح کوی ۔ دویمه معنیٰ زوراور دے په ټول مخلوق باندے چه په زور سره خپله اراده په مخلوق کښ نافذ کولے شی ۔ دریمه معنیٰ اوچت دے دَ ټول مخلوق نه (په صفت دَ علو سره) دَ چالاس (او طاقت) ورته نشی رسیدلے او بله څلورمه معنیٰ دا ده چه جبار هغه ذات دے چه دَ هغه دَ پاره دَ هیچا قانون او حکم او زور نشی چلیدلے او دغه معنیٰ مراد ده په سورة مریم ۳۲ کښ او جبار دَ الله تعالیٰ په باره کښ صفت دَ مدح دے او دَ مخلوق په صفت کښ صفت دَ ذَمّ دے ۔ اَلْمُتَكَبِّرُ بنکاره کوونکے دے خپلے کبریاء لره په دلیلونو عقلیو او وحییو سره ۔ ډیر لوئے دے په ټول مخلوق باندے په ذات او صفتونو سره ۔ فرق په مینځ دَ مستکبر او متکبر کښ دا دے چه استکبار همیشه په ناحق لوئی کښ استعمالیږی دَ دے وجے نه دا په صفت دَ الله تعالیٰ کښ نه راځی او تکبر کله په حق سره وی لکه په صفت دَ الله تعالیٰ کښ او کله په ناحقه سره وی لکه په صفت دَ مخلوق کښ ۔ سُبْحَانَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ دا جمله هم په طریقه دَ صفت دَ الله تعالیٰ سره ده یعنی په دے صفتونو ذکر کړے شوی کښ او نورو صفتونو دَ

الْحُسْنٰى ۚ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

خاشته پاکی وائی هغه لره هغه څیزونه چه په آسمانونو کښې دی او زمکه کښې دی

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾

او خاص هغه زورآور حکمتونو والا دے ۔

رکوع ۶

دَ الوهیت کښې دَ الله تعالیٰ سره هیڅوک شریک نشی کیدلے ۔
۲۴ دا صفات هم په تصرف او قدرت باندے دلالت کوی ۔ الْخَالِقُ دَ خلق نه دے او په معنیٰ دَ تقدیر دے لکه "خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ" یا په معنیٰ دَ قدّر دے یا په معنیٰ دَ نطفے نه جوړول دَ بدن ۔ الْبَارِئُ هر یو لره دَ بیل نه په فرق او تفاوت سره جوړوونکے ۔ الْمُصَوِّرُ شکل او صورت دَ مخ او دَ اندامونو جوړوونکے ۔ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى دا هم صفت دَ الله تعالیٰ دے په اجمالی ذکر سره او اسماء نه اسماء صفتیه مراد دی په صیغه دَ اسم فاعل او صفةِ مشبه او اسم تفضیل سره ۔ او دا اسماء په قران کریم کښې غیر اضافی ۹۲ دی او اضافی ۲۶ دی او دَ دے نه علاوه په احادیثو صحیحو کښې دی او دا اسماء په دوه قسمه دی ثبوتیه لکه چه مخکښې ذکر شول او سلبیه هغه په قران کریم کښې دوه قسمه دی ۱ سلب کلی سره هغه ۵ دی ۲ او سلب خاصه سره هغه ۲۶ دی او دَ اهل السنت والجماعت په نیز باندے دا ټول توقیفی دی یعنی په قران او حدیث صحیح کښې چه کوم دَ الله تعالیٰ دَ پاره ثابت دی یا په هغے کښې سلب شوے وی نو دَ هغے په ثبوت باندے یا په سلب باندے عقیده ساتل ضروری دی او دَ اسماءِ حسنیٰ حصر په خاص عدد کښې نیشته دے او کوم چه په حدیث صحیح کښې ذکر دی چه الله تعالیٰ لره یو کم سل نومونه دی نو دَ هغے مطلب دَ محدثینو په نیز باندے داده چه ثواب خاصه (چه مَنْ اَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ) په دے یو کم سلو پورے دے ۔
فائده ۱ ۔ حُسن په اسماء دَ الله تعالیٰ کښې په ډیرو وجوهو سره دے ۔ اوله وجه داده چه دا خاص دی په الله تعالیٰ پورے دَ هغے په حقیقت کښې هیڅوک شریک نیشته دویمه وجه هر اسم (ریاتے په بل مخ)

په خپله معنیٰ حقیقي کښې په طریقه دَ کمال سره ماخوذ دے۔
دریمه وجه دا چه الله تعالیٰ په دے صفاتو کښې هیڅ چا ته حاجت نه لری۔
څلورمه وجه دادہ چه دا اسماء موقوف دی په نقل باندے عقل لره په دے کښې دخل نیشته دے۔
پنځمه وجه دا ده چه دا ټول قدیم دی هیڅ حدوث پکښې نیشته۔
[او نور تفصیلی بحث دَ دے اسماؤ ما په یو رساله کښې لیکلے دے امید دے چه هغه رساله به په کتاب الایمان کښې چاپ شی انشاء الله تعالیٰ]
یُسَبِّحُ لَهٗ دا هم صفت دَ الله تعالیٰ دے۔
او حدیث صحیح کښې راغلے دی چه چا صبا او بیګاه درے ځله "اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم" اُوئیلو بیا دا درے آیاتو نه یو ځل اولولی نو الله تعالیٰ په دهٔ باندے اویا زره ملائیک مقرر کړی دُعا ورله غواړی او که مړ شی په دغه شپه یا ورځ کښې نو مرګ به ئے دَ شهادت وی (اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا مَوْتَ الشَّهَادَةِ فِیْ سَبِیْلِكَ)

الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة حشر په فضل دَ الله تعالیٰ سره

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ ۶۰ مَدَنِيَّةٌ ۹۱	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۳ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ

اے ایمان والو مه نيسئ دُشمن زما

وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ

او دُشمن ستاسو دوستان چه غورځوئ تاسو هغوی ته خبرے دَ دوستانے

وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ج

او حال دا چه هغوی کفر کړے دے په هغه چه راغلے دے تاسو ته دَ حق نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الممتحنه دَ حا زوَر او زیر دواړه ثابت دی او نور نوموته ئے سورة المؤدّة او سورة المرءة او سورة الامتحان دی.

ربط دَ دے دَ مخکښ سورت سره په درے وجوهو سره دَاوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ تخویف دنیوی وو دَ پاره دَ مشاقینو او په دے سورت کښ امر دے مؤمنانو ته دَ هغوی په براءت باندے دویمه وجه دا ده چه دَ تیر شوی سورت په آخر کښ تفصیلی توحید ذکر کړے شو نو په دے سورت کښ منکرینو دَ توحید سره اظهار دَ دُشمنئ دے. دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ دَ مؤمنانو اقسام ذکر کړل نو په دے سورت کښ دَ کافرانو اقسام ذکر کوی.

دعوی دَ سورت . نهی ده دَ دوستانے دَ کافرانو نه په ۱ ۱۳ کښ. او یو وُلس اسماء حسنیٰ ذکر دی دَ پاره دَ معرفة الٰهیه.

خلاصه دَ سورت. دا سورت دوه بابونو ته تقسیم دے اول باب ترک پورے دے په یکښ منع ده مؤمنانو لره دَ دوستانے دَ کافرانو نه په ذکر کولو دَ او دَ علتونو سره په ۱ ۲ کښ او جواب دَ عذر دے په ۳ کښ او ترغیب دے په براءت کولو کښ او اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام او دَ تابعدارو دَ هغه ته په براءت کولو او په دُعاگانو غوښتلو کښ.

يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا

او باسي دوی رسول صلى الله عليه وسلم لره او تاسو لره د دے وجے نه چه تاسو ايمان راوړے دے

بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ؕ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا

په الله تعالى چه رب ستاسو دے که چرے تاسو وتلی يئ (د وطن نه) د پاره د جهاد

فِىْ سَبِيْلِىْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِىْ ۖ تُسِرُّوْنَ

په لار زما کښ او د پاره د لټولو د رضا زما پټے ليږے تاسو

اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ

هغوی ته دوستانے او زه ښه پوهه يم په هغه څه چه تاسو پټوئ

وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ

او هغه څه چه تاسو ښکاره کوئ او چا چه اوکړو دا کار (په آئنده وخت کښ) ستاسو نه نو يقينًا

ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ① اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ

گمراه شو د برابر لارے نه . که چرے دَ دوی وس پرشی په تاسو باندے

تفسير سلا په يکښ مؤمنانو لره منع کوی د دوستانے د کافرانو نه او د هغوی
سره په دشمنئ کولو باندے راپورته کوی او د هغے د پاره څلور وجے د هغوی د
دُشمنئ د مؤمنانو سره ذکر کوی او درے صفات يئ د مؤمنانو ذکر کړيدی -
ايمان او جهاد او طلب د رضا د الله تعالى او دا صفتونه منع کوونکی دی د
دوستانے د کافرانو نه - او دا سے په سورة مائده سلھ سکھ او سورة نساء سلاا
او سورة آلعمران سلام کښ هم تير شويدی - اَوْلِيَآءُ د ولايت درے مرتبے
دی . اوله مرتبه د کافرانو سره ملگرتيا کول په عقيده او په کار د کفر او شرک
کښ دا خو کفر دے . دويمه مرتبه د هغوی سره په کارونو د کفر کښ مالی يا
بدنی امداد کول اگر چه په کفر او شرک کښ ورسره شرکت نه کوی دا هم
گناه کبيره دے دريمه مرتبه د هغوی توقير او عزت کول د هغوی نه مشر
جوړول او د هغوی د اکرام د پاره او دريدال وغيره (پاڅے په بل مخ)

يَكُوْنُوْا لَكُمْ اَعْدَآءً وَّيَبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ

نو كيږي دوي تاسو ته دشمنان او اوګدوي دوي

اَيْدِيَهُمْ وَاَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوْٓءِ وَوَدُّوْا

لاسونه خپل او ژبې خپلې په بدې سره او هوي غواړي

لَوْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۲﴾ لَنْ تَنْفَعَكُمْ اَرْحَامُكُمْ

چه تاسو كفر اوكړئ . هيڅ نه نفع نه دركوي تاسو ته خپلوان ستاسو

داهم ګناه دے اودا تول مرتب په دے نهي كښ داخل دي.

تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ بآ دَ تاكيد دَپاره زياتي ده او مفعول دَ تلقون دے يا بآ سببيه ده مفعول حذف دے يعنی يلقون اليهم الاسرار (ليکے هغوی ته پټ رازونه) په سبب دَ مودّت سره. قرطبي وئيلي دي چه مراد دَ مودت نه تعلق ظاهري دے ځکه چه زړه دَ حاطب بن ابي بلتعه (چه دا ايت دَ هغه په باره كښ نازل شوے دے) دَ هغوی دَ دوستانے نه پاک وو په دليل دَ قول دَرسول الله صلی الله عليه وسلم سره "اما صاحبکم فقد صدق".

يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ دا استيناف دے علت دے دَپاره دَ وَقَدْ كَفَرُوْا نو تفسير دے دَ كفر دَ هغوی. اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ يعني بل جرم ستاسو نه و وُ ماسيوا دَ دے نه چه تاسو موحدين يئ اودا دليل دے چه څوک يو مؤمن لره دَ هغه دَ ايمان او دَ توحيد اوحق پرستئ دَ وجے نه دَ ملک نه شړي يا ورته څه تكليف رسوي نو هغه كافر دے اودا [۱] په سورة بروج [۸] اوسورة حج [۴۰] كښ هم شته. تسرون اليهم بالمودة دا جمله مستانفه ده په تقدير دَ انتم (مبتدا) سره يا بدل دے دَ تلقون نه په بدل اشتمال سره او المودة نه مراد النصيحة (خيرخواهي) ده. وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ صيغه دَ فعل مستقبل يئ دَ دے دَپاره راوړله چه داكار (چا ورانديے زمانه كښ كړے دے (لكه چه حاطب رض بن بلتعه كړے وو) نو هغه ګمراه اوګنهګار نه دے.

قرطبي وئيلي دي چه دا تول عتاب دے لكه چه يو دوست بل دوست ته كوي نو دلالت كوي په فضيلت اوشرافت دَ حاطب رضی الله عنه باندے.

[۱] پدے ايت كښ درے علتونه (يعنی اوصاف دَ كافرانو) (راځي) پسے په بل مخ)

وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ يَفْصِلُ

او نه اولاد ستاسو په ورځ د قیامت جدائي به اوکړي

بَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿٣﴾

په مینځ ستاسو کښې او الله تعالیٰ ستاسو عملونو لره لیدونکے دے .

ذکر کوی دَپاره دَ براءت کولو دَ هغوی نه .

اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ دا لفظ استعمالیږی په موندلو کښې سره دَ غلبے نه يَكُوْنُوْا یعنی سرهٔ دَ دے نه چه تاسو ورته خطو نه لیږئ لیکن دَ هغې لحاظ نه کوی .

وَاَلْسِنَتَهُمْ په کنځلو او طعنونو ویلو سره ، او اید یکم ئې مخکښې ذکر کړو اشاره ده ډیرے دُشمنئ کولو ته .

وَوَدُّوْا دا ئې په فعل ماضی سره ذکر کړو یعنی داتمنّا دَ دوی دَ زړه ده لکه سورة بقره سـ۱۰۹ کښې .

سـ۳ په دے کښې جواب دَ عذر دے چه حاطب رضی الله عنه ذکر کړے وؤ ("ویلے وؤ چه ما دوی ته خط دَ دے وجے نه لیږلے وؤ چه په دوی باندے زما احسان راشی نو په مکه کښې زما دَ اهل او قرابت والا او مالونو حفاظت اوکړی") حاصل جواب دا دے چه دَ قرابت او اولاد په سبب دَ عذابِ الٰهی نه بچ کیدل نشی کیدلے .

دَ بخاری په روایت کښې په معذرت دَ ده کښې قرابت ذکر دے او نورو روایتونو کښې مال او اهل او اولاد هم ذکر کړے دے . او هر کله چه اُمید دَ نفع ورکولو په سختئ کښې دَ خپلوانو سره اول کیدے شی نو دَ هغوی ذکر ئې مخکښې راوړو . اوکیا هراسی ته نقل دی چه دَ دے ایت نه معلومه شوه چه دَ خوف دَ مال او اولاد دَ وجے نه فتنه دَ دین قبلول نشی جائز کیدے .

يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ هر کله چه امید دَ نفع دَ وصل دَ وجے نه دے نو الله تعالیٰ دَ هغې په مقابله کښې فصل ذکر کړو .

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ متعلق دے په لَنْ تَنْفَعَكُمْ پورے او يَفْصِلُ مستقل کلام دے یا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ظرف دَپاره دَ يُفْصِلُ دے او دَ دے نه جمله مستقله شوه شو یده .

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيْٓ إِبْرٰهِيْمَ

یقیناً شته دے ستاسو دپاره نمونه د تابعدارئ خائسته په ابراهیم علیه السلام

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ إِذْ قَالُوْا لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءٰٓؤُا

او په هغه کسانو کښې چه د هغه سره وُو کله چه دوی اُوئیل قوم خپل ته یقیناً مونږ ویزاره یو

مِنْكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ز

ستاسو نه او د هغه چانه چه تاسو یې بندګی کوئ سیوا د الله تعالیٰ نه

كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ

انکار کوؤ ستاسو د طریقې نه او ښکاره ده په مینځ زمونږ او ستاسو کښې دُشمنی

وَالْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ

او کینه همیشه تر دے پورے چه ایمان راوړئ تاسو په الله تعالیٰ

ئے په دے کښې جواب سوال دے یعنی که اویلے شی چه د خپلو نو رشته دارانو سره براءت کول داخو بے دینی ده نو جواب او شو چه دا خو دین د ابراهیم علیه السلام دے چه هغه او ملګرو د هغه د مشرکانو نه براءت کړے وُو اګر چه د هغوی پلاران او اولاد وغیره وُو نو د هغوی اقتداء کول لازم دی۔
أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ تفسیر د دے په سورة احزاب کښې تیر شوے دے۔
وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ مراد د دے نه د هغه تابعداران وُو او دا رنګ ټول رسولان او اولیاء مراد دی ځکه چه ټول رسولان د هغه ملګری دی په دین کښې او په براءت کولو کښې د دین د دشمنانو نه۔ إِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ یعنی تاسو سره زمونږ هیڅ تعلق نیشته نه خپلولی کول نه دوستانه کول نه غم ښادی کول۔
وَمِمَّا تَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ یعنی هغوی ته مونږ هیڅ حق د معبودیت نه ورکوؤ عبادت پدتیه مالیه هغوی لره نه کوؤ۔
كَفَرْنَا بِكُمْ دا علت د ماقبل دے یا تفسیر د براءت دے۔ کُفر په معنی لغوی سره دے یعنی انکار کول۔ یعنی انکار کوؤ مونږ ستاسو د معبودانو او ستاسو د دین د حقانیت نه یا ستاسو سره د تعلق ساتلو نه۔ (پاتے په بل مخ)

وَحْدَهٗۤ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ

چه یو دے (په معبودیت کښې) مګر وینا دَ ابراهیم علیه السلام پلار خپل ته ضرور به زه بخنه غواړم

لَكَ وَمَاۤ اَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَیْءٍ ؕ

تا لره او وَس نه لرم ستا دَ پاره دَ ځج کولو دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه هیڅ قسم .

رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ

اے رَبه زمونږه په تا باندے مونږ ځان سپارلے دے او خاص تاته مونږ راګرځو په بندګے سره او خاص تاته

الْمَصِيْرُ ﴿۴﴾ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ

ګرځیدل دی دَ پاره دَ جزاء . اے رَبه زمونږ مه ګرځوے مونږ ازمایښت دَ پاره

وَبَدَا بَيْنَنَا دا هم داخل دے په تفسیر دَ براءت کښې . او لفظ دَ بدا دلیل دے چه دَ دے دُشمنۍ اظهار کول لازم دی دَ دے وجے الْعَدَاوَةُ ئے مخکښې راوړو. عداوت په معنیٰ دَ عملی دُشمنۍ کولو او الْبَغْضَآءُ په زړه کښې کینه ساتل دی. او دیته بغض فی الله ویلے کیږی چه دا کمال ایمان دے .

حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗۤ اشاره ده چه سبب دَ براءت او دشمنۍ کولو دَ توحید نه انکار کول دی نو معلومه شوه چه دَ مؤحد سره براءت کول حرام دی . هماں هجران کول دَ یو معصیت دَ وجے نه جائز دی لیکن دَ براءت او دَ هجران کولو په مینځ کښې فرق دے . براءت کول په مشرک پورے خاص دی لکه سورة توبه په ۱ ۳ او سورة انعام ۱۹ ۷۸ سورة هود ۳۵ ۵۴ .

اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ دا استثناء متصله ده دَ لفظ دَ اُسْوَةٌ نه یا دَ لفظ ابراهیم نه یعنی دَ ابراهیم علیه السلام اقتداء په ټولو اقوالو او افعالو دَ هغه کښې ضروری ده مګر په دے قول کښې تابعداری مه کوئے یعنی دَ مشرک دَ پاره دَ استغفار وعده مه کوئے او استغفار ورله مه غواړئے او هغه چه استغفار غوختلو دَ هغے تفصیل په سورة توبه ۱۱۴ کښې تیر شوے دے او دا قول دَ ابراهیم علیه السلام په سورة مریم ۴۷ کښې ذکر شوید ے . او قرطبی ویلے دی چه دا آیت دلیل دے په فضیلت دَ نبی صلی الله علیه وسلم په ټولو انبیاؤ علیهم السلام باندے ځکه چه په اتباع دَ ابراهیم علیه السلام کښې استثناء شته او اتباع دَ نبی

كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ

دَ كافرانو | او بخښنه اوكړې مونږ ته اے ربه زمونږ يقيناً ته خاص ته زورآور

الْحَكِيْمُ ۝ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ

حكمتونو والا يې - يقيناً شته ستاسو دَ پاره په دوی كښې نمونه دَ تابعدارئ

صلى الله عليه وسلم كښې استثناء نيشته دے ۔ وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ اه دا هم په قول ابراهيم كښې داخل دے حاصل دا چه دَ استغفار نه علاوه نور مدد ستا نشم كولے چه دَ عذاب دَ الله تعالىٰ نه دِ خلاص كړم ۔ رَبَّنَا عَلَيْكَ په تقدير دَ يقولون سره دے او په قول دَ ابراهيم عليه السلام او دَ هغه دَ ملګرو كښې داخل دے ۔ يا قولو مقدر دے يعنى دَ مشرک قوم نه براءت كول او دَ هغوی سره دُشمنى كول خو مشكل عمل دے ليكن په الله تعالىٰ باندے په توكل كولو سره هر مشكل اسانيږى ۔ اَنَبْنَا په دے كښې اشاره ده چه براءت دَ دوی سره دَ الله تعالىٰ دَ وجے دے دَ ذاتى بغض دَ وجے نه نه دے ۔ انابة طلب دَ حق دے بغير دَ ضد او تعصب نه ۔

ف دا هم دُعا دَ ابراهيم عليه السّلام ده يا امر دے په دے سره مؤمنانو دَ دے امت ته ۔ فِتْنَةً مراد دَ دے نه عذاب دے او په معنىٰ دَ مفعول سره دے يعنى مُعَذَّبًا بِاَيْدِى الْكَافِرِيْنَ (دَ كافرانو په لاس باندے مونږ له عذاب مه راكوئے) يا فتنة په معنىٰ دَ امتحان او په شرک باندے پوخ پاتے كيدلو ته ويلے كيږى او ذكر دَ مسبب او مراد ترينه سبب دے چه هغه عذاب يا تسلط دَ كافرانو دے په مؤمنانو باندے يعنى اے ربه په مونږ باندے عذاب دَ خپل طرف يا دَ كافرانو دَ طرف نه مه راولے چه هغه به سبب اوګرځى دَ پاره دَ پخ دلو دَ كافرانو په شرک باندے يعنى هغوی به ګمان اوكړى چه مونږ په حقه باندے يونو دَ دے وجے نه په مؤمنانو باندے عذاب راغے يا زمونږ غلبه او تسلط ورباندے راغے ۔ يا سبب په دے ځائے كښې دوستانه ساتل دى دَ كافرانو سره (لكه چه په واقعه دَ حاطب رضى الله عنه كښې اوشوه) يعنى زمونږ نه دَ كافرانو سره دَ دوستانے ساتلو كار مه بنكاره كوے چه دا په سبب شى (پاتے په بل مخ)

حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ

ښائسته دپاره دهغه چاچه اميد لري دملاقات دالله تعالىٰ او د ورځ د

الْاٰخِرَ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ

روستنۍ. او چاچه مخ اوګرځوو نو يقيناً الله تعالىٰ هغه بې حاجته

الْحَمِيْدُ ۝۶ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ

ستائيلے شوے دے. اميد دے چه الله تعالىٰ به جوړه کړي په مينځ ستاسو

وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ

او په مينځ د هغه کسانو کښې چه تاسو ورسره دشمني کوئے د دوی نه دوستانه

ع ۱

د دوی د فتنے د پاره يعني دوی به اوائي چه موږ په حقه يائو نو ځکه دے يو د دے وجے نه مؤمنان زموږ سره دوستانه ساتي.

وَاغْفِرْلَنَا يعني زموږ نه که داسے عملونه سرزد شوي چه سبب د عذاب وي نو د هغے راته مغفرت اوکړے بغير د عذاب نه.

سـ دا ئے دوباره ذکر کړو. يو وجه د تکرار دا ده چه په دے کښې قيد ئے اولګوو د لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ اه چه دا اقتداء په صحيح عقيده او نيت سره پکار ده هغه وخت به فائده ورکوي.

دويمه وجه دا ده چه مخکښې حکم د اقتداء وو په براءت عن المشرکين کښې فقط او په دے کښې ترغيب دے په اقتداء سره په ټول ملتِ ابراهيميه کښې چه پوره توحيد دے او د دے وجے نه دلته ئے د تاکيد د پاره لام د قد سره يو ځائے ذکر کړو او لمن كان يرجوا الله تفسير په سورة احزاب کښې تير شوے دے.

وَمَنْ يَّتَوَلَّ يعني چاچه اعراض اوکړو د اقتداء د ابراهيم عليه السلام نه يعني براءت د مشرکانو نه نه کوي او د هغوی سره عداوت نه ښکاره کوي نو دهٔ ځان ته ضرر او رسوؤ ځکه چه الله تعالىٰ خو غني ذات دے.

وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

او الله تعالی قدرت والا دے او الله تعالی بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔

لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ

نه منع کوی تاسو لره الله تعالی د هغه کسانو نه چه نه یئ دے کړے

يُقَاتِلُوْكُمْ فِى الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ

جنګک تاسو سره په دین اسلام کښ او نه یئ ویستلی یئ تاسو

مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَ تُقْسِطُوْٓا

د کورونو ستاسو نه چه نیکی کوئے تاسو د هغوی سره او ورکوئے حق په انصاف سره

سک د دے ایت نه دویم باب د سورت دے تر اخر پورے۔ په دے کښ اول تسلی ده په لرے کولو د دُشمنئ بیا تقسیم د کافرانو دے د دوه قسمونو ته اول قسم سره تعلق دنیوی جائز دے او د دویم قسم سره مطلق تعلق ساتل منع دی۔ بیا دوه قانونه دی د پاره د دخول د زنانو په اسلام کښ اول قانون په وخت د مصالحت پورے خاص دے او دویم عام دے او په اخری ایت کښ بیا دعویٰ د سورت ذکر کوی۔

په دے (سک) کښ تسلی ده مؤمنانو ته روستو د امر کولو د براءت نه کافرانو سره (چه دشمنان د دین دی) اشاره ده چه براءت کول چه په حکم د الله تعالی سره او د الله تعالی د پاره وی نو ښهٔ نتیجه ورکوی۔ عَسٰی دا لفظ اګر چه امید د پاره وی لیکن الله تعالی خو امید ونو لرلو نه پاک دے د دے وجے دا په معنیٰ د تحقیق سره دے خو دا تعبیر یئ د دے وجے نه ذکر کړو چه مخاطبین د د دے امید اولری او دا وعده الله تعالی په فتح مکه کښ پوره کړه ډیر سخت کافران مسلمانان شول او د دے وعدے پوره کیدل د الله تعالی د طرف نه په سورة العمران ۲۰۱ او سورة انفال ۷۳ کښ ذکر دی۔ وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ قادر دے په انقلاب د زړونو د کفر نه ایمان ته۔

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ یعنی دغه کافرانو ته په سبب د توبے د دوی بخنه کوی ځکه حدیث کښ راغلی دی چه په اسلام سره ټول ګناهونه معاف شی۔

إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٨﴾ إِنَّمَا

هغوی ته يقيناً الله تعالى مينه كوى دَ انصاف كوونكوسره (په حق ورکولو کښې) . يقيناً

يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ

منع كوى تاسو لره الله تعالى دَ هغه كسانو نه چه جنګ كوى تاسو سره

فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ

په دين كښې او ويستلى يې تاسو دَ كورونو ستاسو نه

وَظَاهَرُوا عَلَىٰ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ

او امداد يې كړے دے په ويستلو ستاسو باندے چه دوستانه كوئے تاسو دَ هغوى سره

ف په دے ايت كښې دَ كافرانو او مشركينو هغه قسم ذكر كوى چه هغوى په مؤمنانو باندے هيڅ ظلم نه دے کړے نو دَ دوی سره دنيوى تعلقات په بِرّ اوقِسط وركولو سره جائز دى اګرچه موالات ورسره منع دے او دا حكم اوس هم جارى دے لكه چه ابن جرير په تفصيل سره ذكر كړے دى او رد يې كړے دے په هغه چا باندے چه دے حكم ته منسوخ وائي او دا رنګ قرطبى هم دَ اكثر مفسرينو قول ذكر كړے دے چه دا ايت محكم دے.

اَن تَبَرُّوْهُمْ دا بدل دے دَ الذين نه. دَ بِرّ نه مراد دنيوى او انسانى حسن سلوک كول او چه هغوى سره قرابت دَ نسب وى نو صِله رحمى ساتل مراد دى لكه حديث دَ اسماء بنت ابى بكر رضى الله عنها كښې راغلے دى چه نبى صلى الله عليه وسلم هغې ته اجازت وركړے وُو چه دَ مور سره صله رحمى اوكړه كله چه مور يې مشركه وه.

وَتُقْسِطُوْا اِلَيْهِمْ دَ اقساط نه مراد دَ مال څه حصّه وركول په طور دَ احسان يا دَ صله رحمئ سره دى عدل كول مراد نه دے ځكه عدل په مؤمن باندے دَ هر كافر سره واجب دے او په بِرّ او اقساط كښې هغوى ته دعوت دَ توحيد او سنت هم داخل دے په نرمه لهجه سره. او دَ دے ايت په حكم كښې اهل ذمه كافران داخل دى او دا رنګ هغه زنانه او بوډاګان او بچى دَ كافرانو چه قتال نه شى كولے هغه هم داخل دى.

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑨

او چا چه دوستانه اوکړه د هغوی سره نو دغه کسان دوی ظالمان دی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ

اے ایمان والو ہرکله چه راشي تاسو ته مومنې زنانه

مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ

هجرت کوونکې نو امتحان واخلئ د هغوی (د ایمان) الله تعالیٰ ښه پوهه دے

بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ

په ایمان د هغوی نوکه ستاسو علم راشي چه دوی مؤمنې دی

فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ؕ لَا هُنَّ حِلٌّ

نو مه واپس کوئ دوی لره کافرانو ته۔ نه هغوی حلالې دی

اَلْمُقْسِطِيْنَ هغه کسان چه په برّ او احسان کولو سره اراده لري چه ظلم ختم شي او عدل قائم شي۔

۹ په دے ایت کښې دویم قسم د کافرانو ذکر کوي چه د هغوی سره هر قسم احسان او موالات کول حرام دی او هغه مقاتلین ظالمان دي۔ او د دوی دشمنی په درے طریقو سره ښکاره ده قتال کول د مؤمنانو سره، د وطن نه ویستل، او نورو دشمنانو سره مدد کول په دے درے واړو کښې اګرچه یو عمل موجود وي نو هم په دے قسم کښې داخل دے۔

اَنْ تَوَلَّوْهُمْ دا بدل دے د الذین نه۔ مراد د ولایت نه هغوی سره مطلق تعلق ساتل دی که دنیوی وي اوکه دیني وي دا ټول حرام دی۔ او دا سے په سورة العمران ۲۸ او سورة مائده ۵۱ کښې تیر شوي دي۔

اَلظّٰلِمُوْنَ په مقابل د الْمُقْسِطِيْنَ کښې دے یعنې دوی ظلم کوي او ظلم سره مدد کوي۔

لَهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَآتُوهُم مَّا

دوی لره او نه دوی حلال دی هغوی لره . او ورکوئ دوی ته هغه

أَنفَقُوا ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ

خرچ چه کړے وی هغوی (په زنانو باندے) او گناه نیشته په تاسو باندے چه نکاح اوکړئ تاسو د هغوی سره

إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُوا

کله چه ورکوئ تاسو مهرونه د هغوی او مه راچینگوئ

بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْأَلُوا مَا أَنفَقْتُمْ

نکاحونه د کافرو ښځو او غواړئ تاسو هغه چه خرچ کړیوی تاسو

وَلْيَسْأَلُوا مَا أَنفَقُوا ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ اللَّهِ ۖ

او هغوی دِ هم غواړی هغه چه هغوی خرچ کړے وی . دا فیصله د الله تعالی ده

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾

فیصله کوی په مینځ ستاسو کښ او الله تعالی عالم دے په هرځه حکمتونو والا دے .

سلـ هرکله چه حکم اوکړیشو په براءت د کافرانو سره په اول د سورت کښ
نو تقاضا د براءت دا ده چه د کافرانو او مؤمنانو په مینځ کښ تعلق د نکاح
هم ختم کړے شی نو په دے ایت کښ دا حکم ذکر کوی .
او حاصل د دے ایت دا دے اول امتحان د مهاجراتو، دویم کافرانو ته واپس
کول، دریم حرمت د نکاح د مؤمنے زنانه په کافر نارینه باندے او برعکس هم،
څلورم د مشرکانو مهر او مال واپس کول، پنځم مشرکے زنانه د نکاح نه
ویستل، شپږم د مشرکانو نه خپل مالی حق طلب کول. او سبب د دے
احکامو دا وؤ چه په صلح حدیبیه کښ یو شرط دا مقرر کړے شو چه
د مشرکانو نه څوک مؤمنانو ته راشی (هجرت اوکړی) نو هغه به کافرانو ته
واپس ورکیدیشی.

وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ

اوکه چرے پاتے شي ستاسو څه مال | دَ بیبیانو ستاسو نه | کافرانو ته

نو هرکله چه په دغه وخت کښې دَ مکے نه بعضې زنانو هجرت اوکړو مدینے منورے ته نو کافرانو دَ هغوی دَ واپسئ مطالبه اوکړه نو الله تعالیٰ دا ایت نازل کړو او په دے کښې تشریح اوشوه چه شرط دَ واپسئ په نارینو پورے خاص دے زنانو ته شامل نه دے دَ دوه وجونه اول دا چه دَ هغوی نکاح دَ مشرک سره ختم شو نو واپس کولو کښې نقصان دے دویم دا چه هغوی کمزورے دی هسے نه چه کافران ئے مرتدے کړی۔
فَامْتَحِنُوْهُنَّ هرکله چه دَ هجرت دَ پاره ډیر اسباب دی اوخصوصًا دَ زنانه دَ هجرت دَ پاره کله سبب وی دَ خاوند سره اختلاف او کله محبت دَ بل سړی سره. اوکله خاوند ته ضرر ورکول دَ دے وجے نه امتحان کول ضروری دی چه معلوم شی چه دَ دوی هجرت فقط دَ پاره دَ ایمان دے. اودَ امتحان قرطبی درے طریقے ویلے دی یو دغه چه روستو ذکرکیږی په ایت دَ بیعت کښې او دویم هغه زنانه له قسم ورکول چه دِے دا هجرت دَ هیڅ دنیوی او نفسانی غرض دَ پاره نه دے کړے۔ دریم دا چه دَ کلمے دَ شهادت ورته امر اوکړی چه دا اوایه او په زړه سره په دے یقین اوکړه۔ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ اشاره ده چه دے امتحان اخستلو کښې فائده دا ده چه ستاسو علم حاصل شی الله تعالیٰ خو عالم دے۔ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ، دَ دے نه مخکښې عبارت کښې تقدیر دے یعنی که معلومه شوه چه دَ دوی هجرت دَ پاره دَ ایمان نه دے نو واپس کړئے دوی لره۔ اوکه علم درته حاصل شو چه دوی مؤمنانے دی په ذریعه دَ قسم اودَ شهادت دَ ژبے سره۔ او په نورو علاماتو سره هم ظن غالب حاصلیږی لیکن په شرع کښې په دے باندے هم اطلاق دَ عِلم کیدے شی لکه په سورة یوسف ۸۱ کښې۔ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اه دا دلیل دے چه علت دَ فراق ایمان دے صرف هجرت نه دے. لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ اه په ابتدا دَ اسلام کښې نکاح دَ مشرکانو دَ مؤمنانو سره جائز وو دَ دے وجے نه دَ نبی صلی الله علیه وسلم بعضې لونړه مشرکانو ته واده شوے وے نو په دے ایت سره دَ دے حرمت راغے. وَاٰتُوْهُمْ مَّاۤ اَنْفَقُوْا دا حکم خاص دے په حالت دَ صلح په مینځ دَ مؤمنانو او کافرانو کښې لکه په وخت دَ صلح (پاتے په بل مخ)

فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ

نو ستاسو نمبر چه راشي نو ورکړئ هغه کسانو ته چه تلي وي ښځې ئې د هغوي

مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ

پشان د هغې چه دوي خرچ کړي دي او ويره کوئ د الله تعالیٰ نه هغه ذات دے چه تاسو

بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۱﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ

په هغه باندے ايمان لرئ. اے نبي (صلی الله عليه وسلم) کوم وخت چه راشي تا ته

د حديبيه کښ دا قول د قتادة دے او دا صحيح دے او مراد د انفقو نه هغه مهر دے چه خاوند ورکړے وي او پيشکي نفقه ده.

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ يعني اګرچه مشرک خاوند دے ښځې ته طلاق نه وي ورکړے ليکن نکاح د دوي مات شوے نو روستو د استبراء يا د عدت تيريدلو نه د مسلمان سره نکاح کول جائز دي.

وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ يعني لکه چه نکاح د مؤمنې د کافر سره مات شو نو دا رنګ نکاح د کافرے ښځې د مؤمن سره هم ختم شو. عِصَم جمع د عصمت ده ساتنې ته ويلے کيږي او مراد د دے نه نکاح دے يعني که د يو مؤمن ښځه کافره په دار حرب کښ پاتې شي او سړے هجرت اوکړي يا د دۀ په نکاح کښ روستو د هجرت کولو نه يو مشرکه ښځه وي چه ايمان نه راوړي نو نکاح د دوي ختم شو. او اتفاق د مفسرينو دے چه مراد د دے نه مشرکه غير کتابيه ده او د کتابيې حکم د دے نه خاص کړے شو يد دے په سورة مائده ۵ کښ.

وَاسْئَلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ اه دا خاص دے په زمانه د عهد او د صلح پورې بالاتفاق او اشاره ده چه دا حق د جانبينو دے د وجې د عهد نه.

ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ دا د تاکيد د پاره دے چه د دے تابعداري په مؤمنانو او کافرانو دواړو باندے لازم ده.

۱۱ دا متعلق دے د مخکښې حکم سره يعني مهر د مرتدے زنانه د کافرانو نه اوغواړئ نو که چرے هغوي انکار اوکړو د مهر د واپس کولو نو هر کله چه تاسو ته مالِ فئ يا غنيمت د دغه کافرانو نه حاصل کړئ نو د تقسيم نه مخکښې دغه سړي ته (چه زنانه ئې مرتده شوې ده او کافرانو د هغې مهر نه دے واپس

الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ

زنانه مؤمنې بيعت کوي تا سره په دې خبره باندې چه شريک به نه ګڼي

بِاللّٰهِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ

دَ الله تعالىٰ سره هيڅ څيز او نه به غلا کوي او نه به زنا کوي.

وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ

او نه به وژني بچي خپل او نه به راتلل کوي په بهتانونو سره

يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ

چه جوړ وي ئې دَ خپلو لاسونو او خپو تر مينځه

وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ

او نافرماني به نه کوي ستا په هيڅ کار دَ دين کښې نو بيعت اوکړه دَ دوي سره

کړے) مهر مثل دَ ښځې دَ هغه ورکړے دَ مجاهد او قتاده نه روايت دے چه دا حکم عام دے که د غه کافرانو سره عهد وي او که نه وي. او بعضو مفسرينو خاص کړے دے په وخت دَ عهد پورے.

فَعَاقَبْتُمْ دا دَ عقاب يا عقوبت نه ماخوذ دے سزا ورکولو ته وئيلے کيږي مراد دَ دے نه دَ هغوي سره جنګ او قتال کول دي کله چه عهد ورسره نه وي کړے يا عهد مات کړي لکه سورة حج سلا کښې. عاقب په معنىٰ دَ قتال سره دے يا دَ عقبة نه ماخوذ دے نوبت او نمبر راتللو ته وئيلے کيږي معنىٰ دا چه ستاسو نمبر او نوبت راشي په کافرانو باندے نو مراد دا دے چه دَ دغه کافرانو زنانه تاسو ته راشي او مهر دَ ځان سره راوړي نو دغه مهر هغه کافرانو ته واپس مه ورکوئ (اګر چه عهد وي) بلکه هغه مؤمن له ئې ورکړے چه دَ هغه دَ ښځې مهر هغوي ته پاتے شوے وؤ نو بنا ده په اول تفسير باندے ايت دَ هغه کافرانو په باره کښې دے چه عهد ورسره نه وي شوے يا عهد ئې مات کړے وي او بنا په په دويم تفسير په عهد والو پورے خاص دے. اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ يعنى دَ ايمان مقتضىٰ تقوىٰ ده او مراد دَ تقوىٰ نه طاعت دَ اوامرو او نواهيو دے.

وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ۚ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾

او بخنه غواړه دوی لره د الله تعالی نه یقیناً الله تعالی بخنه کوونکے رحم کوونکے دے .

۱۲ دا قانون تفسیر دَ فَامْتَحِنُوْهُنَّ دے یعنی مراد دَ امتحان نه دا بیعت دے ځکه چه په حدیث دَ بخاری کښ راغلی دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم به دَ مهاجراتو امتحان کوؤ په دے ایت سره نوچا به چه اقرار اوکړو په دے شرطونو باندے نو رسول الله صلّی الله علیه وسلّم به ورته اویل چه ما تا سره بیعت اوکړو په خبرو سره او لاس به ئے دَ هغے په لاس کښ نه ورکوؤ . بیا دا حکم په مهاجراتو پورے خاص نه دے بلکه زنانه به چه ایمان راوړو نو دَ هغے دَ ایمان دَ پاره دا شرطونه وؤ . او په حدیث دَ بخاری کښ دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ عید الفطر دَ خطبے نه روستو زنانو ته راغے نو په دے ایت سره ئے ورته خطاب اوکړو نو ټولے زنانه چپ شوے صرف یوے ورته جواب ورکړو. او په بل حدیث صحیح سره ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلّم داسے بیعت دَ نارینو نه هم اغستلے وؤ. او دا بیعت مشتمل دے په شپږ خبرو باندے.

لَا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْـًٔا دا خومنافی دَ ایمان دے په دے سره ایمان قطعًا زائل کیږی دَ دے وجے نه دائے دَ ټولو نه مخکښ ذکر کړو او هرکله چه څوک پیدا نه پوهیږی نو لازم ده چه دَ شرک دَ معنی او اقسامو پوره تفصیل هغه ته اوکړے شی. (تنبیه) نن زمانه کښ داسے ډیر پیران پیدا شویدی چه پخپله په شرک کښ اخته وی او نور خلق هم په شرک کښ اچوی او ډیر جاهلان ئے ګمراه کړے دی دَ هغوی نه اجتناب کول فرض دی. دویمه خبره دا ده چه . . . .

وَلَا يَسْرِقْنَ پردی مالونه او دَ خاوند دَ مال نه په هم غلا نه کوی هاں که چرے یو خاوند خپلے زنانه یا اولاد ته نفقه نه ورکوی نو زنانه له جائز دی چه دَ خپل حق موافق دَ هغه دَ مال نه څه خیز پټ کړی دا په حدیث دَ هنده (ښځه دَ ابوسفیان) کښ راغلی دی. دریمه خبره وَلَا يَزْنِيْنَ غلا کول متعدی ګناه دے او زنا کول ذاتی ګناه دے دَ دے وجے نه غلا ئے مخکښ ذکر کړے ده .

څلورمه خبره وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ قتل ناحق خو مطلقًا حرام دے لیکن زنانه اکثر په نور قتل باندے قدرت نه لری ما سیوا دَ بچو دَ قتل کولو نه دَ دے وجے نه دَ دے تخصیص ئے اوکړو او مراد دَ دے نه قتل دَ عام اولاد دے دَ وجے دَ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوْاْ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ

اے ایمان والو دوستانه مه کوئ د هغه قوم سره چه غضب کړے دے الله تعالیٰ

فقرا و لوګے نه لګه چه په سورة انعام ۱۵۱ او سورة اسراء ۳۱ کښ ذکر دی او قتل د لونړو پکښ هم داخل دے۔ او مفسر آلوسی ویلی دی چه کید یشی چه دا قتل شامل وی اسقاط حمل ته روستو د ساه اغستلو ته او په جاهلیت کښ غلا او زنا ډیر وو۔ په نسبت د قتل د اولاد د نوهغه ئے مخکښ ذکر کړل۔ پنځمه خبره وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ په دیکښ د مفسرینو ډیر اقوال دی اول دا چه مراد د بهتان نه مونډ لے شو ے څوئے دے چه خاوند ته ئے نسبت کیږی او ولد په وخت د پیدائش کښ د مور د لاسو او خپو په مینځ کښ پروت وی. دویم دا چه مراد د دے نه ولد د زنا دے چه اول خو به ئے قتل کوو او که د قتل نه بچ شو نو بیا به ئے خاوند ته نسبت کوو۔ او حمل په خیټه کښ وی او خیټه په مینځ د لاسو او خپو کښ ده د دے وجے نه زنا او قتل د ولد او بهتان ئے په ترتیب سره ذکر کړل۔ دریم دا چه مراد د بهتان نه په چا باندے د یو ګناه بد نامه لګول دی او د ځان نه ئے جوړ وی دلیل ورسره نه وی نو د دے نه تعبیر کیږی په بین ایدیهن او ارجلهن سره۔ او په دے کښ دروغ غیبت چغلی کول تخل د زنا دا ټول داخل دی۔ شپږمه خبره وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ دوه معنی دی یو معنی خاص د هغه مقابل د منکر ده یعنی هغه شئ چه په شرع سره د هغے حسن ثابت وی نو ما قبل کښ منکرات او منهیات پنځه ذکر شول او په معروف کښ مامورات مراد دی او هغه ډیر دی د دے وجے نه ئے اجمالاً ذکر کړل دویمه معنی عامه ده هغه دا چه هر هغه خیز چه د هغے حکم په شرع سره معلوم وی چه جائز یا ناجائز دے په دے معنی سره مامورات او منهیات ټول ته شامل دی. دلته دویمه معنی غوره ده او د دے د عموم د لاندے مفسرینو امور د جاهلیت لیکلی دی۔ هغه ویرکول په مړی باندے، د ځان نه مخ شوکول، مخ ټکول، د ځان نه جامے شلول، ویښته لګول خالونه لګول. د پردی سړی سره د زنانه خبرے کول بغیر د ضرورت نه نو دے ټولو ته دا لفظ شامل دے۔

فائده ۱:- آلوسی او قاسمی لیکلی دی چه معروف لفظ کښ اشاره ده چه د هیڅ مخلوق طاعت بغیر د معروف نه جائز نه دے (پاتے په بل مخ)

عَلَيۡهِمۡ قَدۡ يَئِسُوۡا مِنَ الۡاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ

په هغوی باندے یقینًا نا امیده دی دوی د اخرت نه لکه چه نا امیده دی

الۡكُفَّارُ مِنۡ اَصۡحٰبِ الۡقُبُوۡرِ ﴿۱۳﴾ ع

کافران د دوباره ژوند د قبرونو والو نه۔

فائده ع۲: قرطبی لیکلی دی چه دلته د منهیاتو ذکرئے په تفصیل سره اوکړو او د معروف تفصیل ئے نه دے کړے ځکه چه انسانان اوخصوصًا په زنانو کښ ارتکاب د دے منهیاتو ډیر دے په نسبت د ترک د ماموراتو۔

ع۳ دا ایت متعلق دے د ابتداء د سورت سره چه دعوی د سورت ده۔ په ابتداء د سورت کښ د عوامو مشرکانو نه براءت وو او په دے ایت کښ د کتابیانو کافرانو نه براءت دے۔

غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ مراد د دوی نه کتابیان کافران دی۔

قَدۡ يَئِسُوۡا مِنَ الۡاٰخِرَةِ مضاف محذوف دے یعنی د خیر او د ثواب د اخرت نه نا امیده دی د وجے د عناد د دوی نه د حق سره یعنی سره د علم انکار کوی د عناد د وجے نه نوخه پوهیږی چه زمونږ په اخرت کښ اجر او ثواب نیشته۔

كَمَا يَئِسَ الۡكُفَّارُ مِنۡ اَصۡحٰبِ الۡقُبُوۡرِ۔ مِنۡ بیانیه دے یعنی هغه کافران چه مړه شویدی نو هغوی یقینًا د ثواب د اخرت نه نا امیده شویدی یا هغوی د ژوندو نه نا امیده دی چه دوی به ورته خه خیر اورسوی۔

یا مِنۡ د پاره د ابتداء دے او مضاف محذوف دے یعنی من بعثهم معنی داده لکه چه نا امیده دی ټول کافران د دوباره ژوند د اصحاب قبور نه۔

او بعض مشرکینو عنادیانو د دے ایت نه دلیل نیولے چه د مړو د خیر رسولو نه نا امیدی کول د کافرانو عقیده ده یعنی قبرونو والا خیر او شر رسولے شی جواب داد ے چه دا تحریف د قران دے د درے وجو نه اوله وجه داده چه د سلف صالحینو او تمام مفسرینو نه دا معنی نقل نیشته او علماؤ اتفاق کړے دے چه د قران داسے تفسیر کول چه د سلف صالحینو نه نقل نه وی دا تحریف دے۔

دویمه وجه داده چه دا د نفس الامر (واقع) نه خلاف دے ځکه چه

کافران خو مړو معبودانو نه امید دَ نفع دَ خوف او دَ ضرر لري لکه مشرکین مکه چه دَ هبل او لات و منات (اگرچه مړه بزرګان وو) امیدونه سا تل او هغوی ته به ئې حاجاتو کښې چغې وهلې۔

دریمه وجه الزامي ده چه اصحاب القبور نیکانو او بدانو ټولو ته شامل دی نو آیا دَ بدانو بدکارو خلقو نه چه مړه شویدي هم امید دَ نفع ضـــرر کیدے شي۔

الحمد لله۔ ختم شو تفسیر دَ سورة الممتحنة په توفیق دَ الله تعالیٰ سره۔

رکوعاتها ۲	آیاتها ۱۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	سُوْرَةُ الصَّفِّ ۶۱ مَدَنِیَّةٌ ۱۰۹

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ ج

پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په آسمانونو کښ او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سورة الصف د یته سورة حواریین او سورة عیسیٰ هم ویلے شی۔

ربط د دے د ماقبل سره دا دے چه تیر شوی سورت کښ زجر وو مؤمنانو ته په غیر مناسب کارونو باندے نو په دے سورت کښ زجر دے په اقوالو غیر مناسبو باندے بله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ منع وه د دوستانے د مشرکانو نه نو په دے سورت کښ ترقی ده چه د دوی سره جنگ او قتال اوکړئے۔ دریمه وجه دا چه په هغه سورت کښ د یهودیانو سره د براءت حکم وو نو په دے سورت کښ د یهودیانو قباحت ذکر کوی۔

دعویٰ د سورت ۔زجر دے په مخالفت د عمل د قول ۲-۳ نه لکه سرة د دعوے د ایمان نه د جهاد او قتال نه مخ گرځول او مسئله د توحید هم په اول کښ ذکر ده ۱۰ او ترغیب دے جهاد ته په ۱۰ کښ۔

خلاصه د سورت ۔ مختصره خلاصه دا ده چه په دے سورت کښ درے خطابات دی په یا ایها الذین آمنوا سره په اول خطاب کښ زجر دے په ترک د قتال فی سبیل الله او ترغیب دے قتال ته او په دویم کښ بشارت اخرویه او دنیویه دے او په دریم کښ ترغیب دے چه په طریقه د حواریینو سره جهاد اوکړئے۔ او تفصیل دا دے چه اول دعوی د توحید ده بیا زجر دے په مخالفت د قول او د عمل بیا ترغیب دے قتال ته بیا دوه دلیلونه نقلیه دی اول د موسیٰ علیه السلام او دویم د عیسیٰ علیه السلام او تخویف دے په ذکر د حال د یهودیانو چه هغوی قتال فی سبیل الله پریخودلے وو (او دا اذیت ورکول وو موسیٰ علیه السلام ته او زیغ وو د حکم د الله تعالیٰ نه) چه د هغوی په زړونو کښ ازاغت راغے ۔ بیا ترغیب دے تابعدارئے د آخری

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ① يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

او خاص الله تعالىٰ زورآور حکمتونو والا دے ۔ اے

اٰمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ②

ایمان والو ولے وائی په ژبه هغه خبرے چه نه يئے كوئے (په عمل كښ)

رسول ته خصوصًا په قتال فی سبیل الله کښ او تاکید دَ ترغیب یئے ذکرکړیدے په بشارت دَعیسیٰ علیه السّلام سره په باره دَ دے رسول کښ او زجر دے په تکذیب بانده او زجر دے په افتراء بانده او زجر په اطفا دَ نُورِ دَ الله تعالیٰ بانده ۔ بیا ذکرکوی صداقت دَ رسول چه دے رالیږلے شوید ے دَپاره دَ قتال فی سبیل الله ۔ بیا بشارت اخرویه او دنیویه دے په باره دَ جهاد کښ او په اخرکښ ترغیب دے نصرت او قتال فی سبیل الله تعالیٰ ته په شان دَ حواریینو ۔

تفسیر په ۱ کښ ذکر دَ توحید دے په تعبیر دَ تسبیح سره ۔ او په دیکښ اشاره ده دفع کولو دَ اعتراض ته چه فائده دَ قتال راجع ده تاسو ته الله تعالیٰ دیته محتاج نه دے ځکه چه هرقسم عیب او احتیاج نه داسے پاک دے چه اسمانونو او زمکو والا دَ هغه په پاک والی بانده ګواهی کوی ۔

او مَا فِی السَّمٰوٰتِ اه شامل دے مکان او مکین او ظرف او مظروف دواړو ته یعنی اسمانونه او زمکے سره دَ هغه خیزونو نه چه په دوی کښ دی تسبیح وائی

۲ دا اول خطاب دے مؤمنانو ته دَ درے خطابونو نه او مقصد په دیکښ تیزی ورکول دی په قتال فی سبیل الله بانده او زجر دے په مخالفت دَ قول او دَ عمل بانده او دَ دے مختلف طریقے دی اوله طریقه دا چه په تیره زمانه کښ یو شخص یوکار نه وی کړے او دے وائی چه ما فلانے کارکړے دے نو دیته دروغ ویلے کیږی ۔ او دویمه طریقه په زمانه مستقبل پورے متعلق ده یعنی که یو شخص اوائی چه ځه په فلانے کارکوم او بیا یئے اونه کړو نو دا شامل دے وعده کولو دَ بندګانو دَ یو بل سره ۔ او نه کول په نوم دَ الله تعالیٰ معلق وی او که مطلق وی او عهد کول دَ الله تعالیٰ سره لکه چه اوائی چه قتال فرض شی نو زهٔ به قتال کوم او هرکله راپاتے په بل مخ)

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا

غټه وجه دَ غصې ده په نيز دَ الله تعالى دا چه وايئ په ژبه هغه چه

تَفْعَلُوْنَ ۝۳ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ

عمل پرے نه کوئے - يقيناً الله تعالى مينه کوى دَ هغه کسانو سره

يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ

چه جنګ کوى په لار دَ الله تعالى کښ صفونه صفونه ګويا چه دوى ديوال دے

چه فرض شى نو بيا ئے نه کوى - او دروغ او خلاف دَ وعدا او عهد نه دا ټول ګناهونه دى هاں په وفا دَ وعده کښ اختلاف دے دَ اهل علمو چه واجب ده او که مستحب ده قرطبى دَ هغې تفصيل کړے دے - او دا خصلتونه دَ منافقانو دى نو معلومه شوه چه مقصد په دے خطاب کښ منافقان دى او دَ قتال په باره کښ دَ مخالفت دَ عهد ذکر په سورة نساء ۷۷ او سورة محمد ۲۰ کښ تير شويدے - لِمَ تَقُوْلُوْنَ بنا په اول بانددے زجر په قول باندے دے يعنى دروغ ويل او دويم طريقے سره دا زجر په عدم فعل باندے دے په قول باندے نه دے لکه په دے قول دَ الله تعالى کښ اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ - او دريمه طريقه دا ده چه مراد دا دے چه کوم فعل دَ انسان دَ قدرت نه بهر وى او دے وائى چه زه به دا فلانے کار کووم نو په دے معنى سره زجر په قول باندے دے په شان دَ اولے طريقے -

۳ په دے کښ تاکيد دے دَ زجر په پنځه وجوهو سره يو لفظ دَ كَبُرَ چه دا تعجب دے مِنْ غَيْرِ لَفْظِهٖ دويم لفظ مَقْتًا مقت سخت بغض او غضب ته ويلے کيږى او دا مغضوب دے په تمييز سره روستو دَ ابهام دَ كَبُرَ نه دريم عِنْدَ اللّٰهِ او دَ الله تعالى په نيز چه سبب دَ بغض وى نو هغه ډير لوئے جرم وى څلورم اَنْ تَقُوْلُوْا فاعل دَ كَبُرَ دے يعنى نفسِ قول بے عمله خالص مقت دے او پنځم دا چه دا لفظ ئے مکرر راوړے دے - او په دوا ايا تونو کښ سخت زجر هغه عالمانو خطيبانو ته دے چه په علم باندے عمل نه کوى او نورو خلقو ته وعظ کوى -

مَّرْصُوْصٌ ④ وَإِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ

په يو بل کښې نښتي شوي. | او کوم وخت چه اُوئيل موسٰی عليه السلام | قوم خپل ته

يٰقَوْمِ لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ وَقَدْ تَّعْلَمُوْنَ

اے زما قومه | ولے | خفه کوئے ما | او حال دا چه يقيناً پوهيږئ تاسو

اَنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ ۖ فَلَمَّا زَاغُوْٓا

چه زه رسول دَ الله تعالٰی (رالیږلے شوے یم) تاسو ته | نو هرکله چه دوی کاږه شول

سل په دے ایت کښې ترغیب دے قتال فی سبیل الله ته عملاً۔ او دَ دے ایت دَ اتصال نه معلومه شوه چه اول دوارِه ایتونه په طریقه دَ تمهید عمومی سره وو او په دے کښې مقصد ئے ذکر کړو یعنی چه قول دَ اٰمَنَّا تاسو کړے دے نو دَ هغے دَ پاره عمل دَ قتال ضرور اوکړئ او دا دَ خطاب طریقه ده چه اول عمومی کلام ذکر کړے شی نو بیا خصوصی مقصد دَ هغے په مناسبت کښې ذکر کړے شی۔

صَفًّا په معنی دَ مصطفین سره دے یا فعل دَ یصفّون حذف دے او دا حال دے او دَ دے نه بعض علماؤ دلیل نیولے دے چه جهاد پیاده غوره دے دَ جهاد دَ سورلئ نه او دَ دے نه معلومه شوه چه هیڅ مجاهد له جائز نه دی چه بغیر دَ اذن دَ امیر او بغیر دَ ضرورته دَ صف نه اوځی۔

كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ هغه دیوال چه ګټې او خښتې دَ هغے په یو بل کښې اومنښلے شی تر دے پورے چه چودونه بند شی او هموار وی او مضبوط وی نو داسے صف دَ قتال او صف دَ مونځ دَ جماعت ضروری دے چه دَ یو بل سره داسے جُخت وی چه په مینځ کښې فُرَجَات نه وی او دَ نعمان بن بشیر روایت امام بخاری نقل کړیدے چه مونږ به په صف کښې اوګے اوګیټئ دَ خپو دَ یو بل سره پیوست کولے۔ او دا حالت دَ صف دلالت کوی په اتحاد دَ مؤمنانو باندے او دارنګ په مضبوطوالی دَ قدمونو دَ هغوی په خپل ځایونو باندے او دَ دوستئ دَ مؤمنانو دَ یو بل سره۔

أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا یَهْدِی

کاګه کړه الله تعالیٰ زړونه د دوی او الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی

الْقَوْمَ الْفٰسِقِیْنَ ۝ وَاِذْ قَالَ عِیْسَى ابْنُ

قوم ډیر نافرمان ته . او کوم وخت چه اویل عیسیٰ ځوئ

ف دا دلیل نقلی دے د موسیٰ علیه السّلام نه چه موسیٰ علیه السّلام دعوت توحید اوجهاد ته ورکړے وؤ او دا رنګ پدیکښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په دا سے طریقه چه دا منافقان چه مخالفت کوی د امر د قتال نه نو صبر کوه ځکه چه دا سے یهودیانو هم د موسیٰ علیه السّلام د امر نه خلاف کړے وؤ او هغه صبر کړیدے . او د دے وجے حدیث د بخاری کښ راغلے دی چه هر کله یو منافق په تقسیم د غنیمتونو د حنین کښ په نبی صلی الله علیه وسلم باندے اعتراض اوکړو نو هغه او فرمائیل رحمت د الله تعالیٰ دی په موسیٰ علیه السّلام باندے هغه ته د خپل قوم د طرف نه ډیر اذیتو نه رسیدلے وؤ لیکن هغه صبر کړے وؤ . او مضمون د دے ایت پشان د سورة احزاب ۶۹ دے . لِمَ تُؤْذُوْنَنِیْ بنی اسرائیلو موسیٰ علیه السّلام ته ډیرے ایذاګانے ورکړے وے لکه سورة نساء ۱۵۳ او اعراف ۱۳۸ او نورے واقعے هم په احادیثو او کتابونو د تفسیر کښ لیکلے دی لویه ایذاء هغه ده چه په سورة مائده ۲۴ کښ ذکر شوید ه یعنی انکار د قتال فی سبیل الله نه او دلته دا مراد واضح دے ۔

وَقَدْ تَعْلَمُوْنَ اه قد دپاره د تحقیق او د تاکید دے یعنی په ډیرو ایاتونو او معجزاتو سره تاسو ته یقیناً زما رسالت ثابت شوید ے ۔

فَلَمَّا زَاغُوْا سرهٔ د علم د حق نه انکار کول یا او ریدل دیته زیغ ویلے کیږی د هغے پوره بحثه په سورة آل عمران ۷ کښ تیره شوید ه ۔

أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ جزاء د جنس د عمل نه وی هر کله چه دوی د طاعت او د ایمان او د احترام د رسول او د قتال فی سبیل الله نه کاږه شول نو الله تعالیٰ د دوی په زړونو کښ شکوک ، شبهات ، حیرانتیا ، او ګمراهی پیدا کړه لکه په سورة نساء ۱۱۵ او سورة انعام ۱۱۰ کښ ۔

مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

دَ مريم اے بنی اسرائيلو يقيناً زه رسول دَ الله تعالیٰ (رالیږلے شوے يم)

اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

تاسو ته تصديق کوونکے دَ هغه کتاب چه زما نه مخکښې دے چه تورات دے

وَمُبَشِّرًاۢ بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ

او زيرے ورکوونکے يم په دا سے رسول چه راځی به په ما پسے روستو نوم دَ هغه

اَحْمَدُ ؕ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا

احمد دے نو هر کله چه راؤړل ئے دوی ته ښکاره معجزات دوی اُووئيل دا

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۞ ۶ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

جادو ښکاره دے. او څوک ډير ظالم دے دَ هغه چا نه چه جوړ وی

اَلْفٰسِقِيْنَ دا فسق دَ عقيدے دے په قرينه دَ زيغ سره ځکه چه زيغ دَ عقيدے سره تعلق لری.

۶ دا هم دليل نقلی دے چه عيسیٰ عليه السّلام تصديق دَ تورات هم کړيدے ليکن بنی اسرائيلو دَ هغه نه زيغ اوکړو او دا رنګ بشارت ئے په اخری نبی سره هم ورکړے دے او دا بنی اسرائيل دَ هغه نه هم انکار کوی لکه چه په سورة اعراف ۱۵۷ او سورة آل عمران ۸۱ کښې هم ديته اشاره ده - او په حديث دَ مسند احمد کښې راغلی دی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی چه زهٔ دُعا دَ پلار ريم چه ابراهيم عليه السّلام دے او بشارت دَ عيسیٰ عليه السّلام هم يم. مِنْۢ بَعْدِي، لفظ دَ بعد دلالت کوی په مطلق روستو والی، او لفظ دَ مِنْ چه داخل شی په بعد باندے نو اشاره ده قلت بعديت او عدم واسطے ته په مينځ دَ مخکنی او روستنی کښې يعنی په مينځ دَ عيسیٰ عليه السلام او محمد صلی الله عليه وسلم کښې بله واسطه (يعنی بل رسول او نبی) نه دے راغلے او دَ دے دواړو په مينځ کښې تقريباً پنځه سوه او نهه اويا کاله فاصله ده. اَحْمَدُ امام رازی په رپاڼے په بل مخ)

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعٰٓى إِلَى الْإِسْلَامِ ط

پہ	الله تعالیٰ	بَاندے	دروغ	او حال دا چہ هغه را بللے کیدے شی	اسلام	ته

په تفسیرکبیراو قاسمی په خپل تفسیرکښ او الشیخ رحمت الله الکیرانوی په کتاب اظهارالحق کښ دَ انجیل دَ یوحنّا دَ څوارلسم باب نه بشارت په لفظ دَ فارقلیط سره نقل کړے دے او دا یونانی لفظ دے او اصل ئے بیرکلوط دے او معنیٰ دَ هغې احمد دے او په انجیل دَ برنابا کښ صریح عبارتونه ډیر دی هاں روستو راهبانو دَ ډیرضد دَ وجې نه په دغه الفاظوکښ تحریفات کړیدی - او حدیث دَ بخاری کښ چه څه محمد یم او احمد یم او ماحی او حاشر او عاقب یم او په حدیث دَ مسلم کښ ورسره المقفّی او نبی الرحمة او نبی التوبة او نبی الملحمه هم راغلی دی - اوخطیب په سراج المنیرکښ دَ بعض اهل علم نه نقل کړیدی چه دَ هغه زر اسماء دی (اګرچه دَ دے دعوے هیڅ دلیل نیشته) او دارنګ بعضو دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم یوکم سل ۹۹ اسماء لیکلی دی په موافق دَ اسماء الحسنیٰ دَ الله تعالیٰ او دَ دوی سره په دے باندے هم څه دلیل شرعی نیشته.

فائده :- فرق په مینځ دَ احمد او محمد کښ په دوه طریقو سره دے اول دا چه احمد اسم تفضیل دے یعنی احمد الحامدین لله - ټول انبیاء علیهم السّلام حمد ویونکی دی لیکن اخری نبی دَ ټولو نه زیات حمد کوونکے دَ الله تعالیٰ دے او محمد په معنیٰ دَ محمود سره دے لیکن محمود صرف حمد کړے شوے ته ویلے کیږی او محمّد هغه ته ویلے شی چه بار بار ئے حمد ویلے کیږی نو په لفظ احمد کښ زیادت دَ کیفیت دے او په لفظ محمد کښ زیادت دَ کمیّت (مقدار) دے - دویم فرق دا دے چه احمد هم مبنی للمفعول دے لکه دَ اشغل پشان نو دَ محمد معنی ده بار بار حمد ویلے شوے او دَ احمد معنیٰ ده ډیرغټ حمد ویلے شوے بیا دَ اول فرق په بِنا حکمت دا دے چه اول خو یو انسان ډیر حمد ونه اوصفتونه وائي روستو دَ هغې نه بیا دَ دغه انسان حمد او ستائینه کیدے شی په دے وجه په مخکنی کتاب (انجیل) کښ اول صفت ذکر شو او په قران کښ دویم نوم ذکر کړے شو - او دَ دے نه چه مرزائی دَ خپل نبوت دَ

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۞ يُرِيْدُوْنَ

او الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی قوم ظالمانو ته - دوی غواړی

لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ۭ وَاللّٰهُ مُتِمُّ

چه مړه کړی رڼا دَ الله تعالیٰ په خپلو خُلو سره او الله تعالیٰ پوره کوُونکے دے

اثبات دَ پاره دلیل ذکر کړے دے نو هغه خالص دروغ او تحریف دے ځکه چه دَ مرزائي نوم غلام احمد دے او په دے ایت کښ احمد ذکر شوے دے او مضاف خو غیروی دَ مضاف الیه ته -

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ضمیر دَ فاعل عیسیٰ علیه السّلام یا آخری نبی ته راجع دے دویم قول غوره دے او په دے کښ سخت زجر دے یهود او نصاری ته چه هغوی سره دَ بشارت دَ عیسیٰ علیه السّلام او سره دَ بینات نه دَ دے آخری نبی نه انکار اوکړو - او بینات نه مراد قرآن کریم دے - هٰذَا سِحْرٌ هذا اشاره ده بینات ته او سحر بخپله معنیٰ سره دے یا هذا اشاره ده رسول ته او مصدر (سحر) په معنیٰ دَ اسم فاعل دے او حمل ئے مبالغةً دے -

سے دا زجر دے هغه کسانو ته چه بیناتو ته سحر وائي که یهود وی چه تکذیب دَ عیسیٰ علیه السلام ئے کړے دے او که یهود او نصاریٰ دواړه دی چه تکذیب ئے دَ آخری نبی صلی الله علیه وسلم کړے دے -

اَلْكَذِبَ هر سحر کذب او افتراء ده او دا رنګ شرک کول هم افتراء ده -

اَلْاِسْلَامِ مراد دَ دے نه دین دَ توحید دے چه دَ ټولو انبیاء علیهم السلامُ دین دے یا مراد دَ دے نه اتباع دَ محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ده -

الظّٰلِمِيْنَ یعنی انکار دَ حق نه په طریقه دَ ضد او عناد سره کوی ایت پنځم کښ الفاسقین ذکر وو ځکه چه زیغ دَ زړونو فسق دَ عقیدے دے او دلته ئے الظالمین اوئیل ځکه چه په اول دَ ایت کښ ئے وَمَنْ اَظْلَمُ وئیلے دی-

نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ۝۸ هُوَ الَّذِیْٓ

رڼړیا خپله لره اګر چه بد ګڼي کافر - خاص الله تعالی هغه ذات دے

سلا دا هم زجر دے په انکار د رسول او د قران سره ۔ دا یې ذکر کړے دے بغیر د حرفِ عطف نه په طریقه د جوابِ سوال سره ۔ سوال دا دے چه دوی ظلم کوی او د اسلام مقابله په افتراء سره کوی دا د څه مقصد د پاره کوی ؟ جواب او شو چه مقصد د دوی اِطفاء د نور الله ده ۔ نو په یُرِیْدُوْنَ کښ ضمیر راجع دے هغه کسانو ته چه حق ته سحر وائی او ظلم کوی ۔ اطفاء او اخماد کښ فرق دا دے چه اطفاء په لګه او ډیره رڼړا دواړو کښ استعمالیږی او اخماد فقط په ډیره رڼړا کښ استعمالیږی او بل فرق یې دا دے چه اخماد اکثر په اور کښ استعمالیږی او اطفاء په نور کښ مستعملیږی ۔

فائده :- په سورة توبه ۳۲ کښ اَنْ ذکر شو او دلته لام ذکر دے وجه د فرق دا ده چه اَنْ په تاویل د مصدر سره مفعول د یریدون دے یعنی اطفاء د دوی اصل مراد دے او لام د پاره د علت دے او مفعول د یریدون پټ دے یعنی یُرِیْدُوْنَ الافتراء والتکذیب لاجل الاطفاء نو معلومه شوه چه په اول تعبیر کښ مبالغه ده په نسبت د دویم تعبیر سره او په سورة توبه کښ تفصیل د قبائحو او علل د قتال د یهودو او نصاری بیانیدل مقصود وو نو د هغې سره تعبیر په مبالغې (په اَنْ) سره ذکر کړے شو ۔ نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ مراد د نور نه نمر دے او کلام په طریقه د استعاره تمثیلیه سره دے یعنی دا منکرین چه د حق د ابطال کوشش کوی د دوی مثال د هغه شخص دے چه نمر په پوکو بانددے مړکول غواړی ۔ یا مراد د نور نه قران او توحید او رسالت د اخری نبی صلی الله علیه وسلم او اسلام دے او افواههم نه مراد بے دلیله خبرے او شبهات واهیه دی ۔ وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ اتمام د نور په نازلولو د قران او په جواب د شبهاتو د دوی سره دے او په دے کښ اشاره ده چه د اتمام د نور نه وړاندے (یعنی د قران پوره نازلولو او دین اسلام د پوره کولو نه مخکښ) د هیڅ قدرت نه وو چه دا یې ختم کړے یا نیمګړے کړے وے ۔ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ په لفظ د کفر کښ اشاره ده ظلمت ته چه مقابل د نور دے یعنی تیاره (ظلمات) خوخول خلق رڼړا نه غواړی ۔

أَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ
چه را اولیږه ئې رسول خپل په هدایت سره او په حق دین سره

لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ كَرِهَ
دَ دے دَپاره چه غالب کړی هغه لره په دینونو ټولو باندے اگرچه بد ئې گنړی

الْمُشْرِكُوْنَ ۝٩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ
مشرکان . اے ایمان والو آیا اوخایم تاسو ته

ع ۱

سف دا بیان دے دَ پاره دَ مُتِمُّ نُوْرِهٖ یعنی اتمام دَ نور خپل کوی په رالیږلو دَ دے رسول او قران سره سره دَ صفت دَ غالب کولو نه په ټولو دینونو باندے. تفسیر دَ دے په سورة فتح ۲۸ او سورة توبه ۳۳ کښ تیر شوے دے.

بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ قران او توحید. یا قران او حدیث یا عقیده او احکام مراد دی.

لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ دَ ظهور نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ غلبے سره او ضمیر دَ مفعول راجع دے رسول ته یا دین ته او غلبه عامه ده که په حجت سره وی او که دا سے وی چه نور دینونه وی لیکن کمزوری وی لکه په زمانه دَ خلفاء راشدینو کښ چه اوشوه او که دا سے وی چه بل دین سیوا دَ اسلام نه په مخ دَ زمکه باقی نه وی لکه چه په زمانه دَ نزول دَ عیسیٰ علیه السلام کښ په قرب دَ قیامت کښ به وی. یا اظهار په معنیٰ دَ اعلام او دَ اطلاع سره دے یعنی نزول دَ قران په نبی صلی الله علیه وسلم باندے سبب دے دَ پاره دَ حصول دَ علم په ټولو ادیان سماویه او غیر سماویه باندے.

وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ هر کله چه هدی او دین حق توحید دے او انکار دَ توحید نه شرک ویلے کیږی نو دَ دے ایت اختتام ئې په المشرکون سره اوکړو.

فائده:- په سورة فتح ۲۸ کښ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا او په سورة توبه ۳۳ کښ او په دے سورت کښ ولوکره المشرکون ئې ذکر کړو. وجه دا ده چه په سورة فتح کښ رد دے په مشرکینو عوامو باندے چه هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت باندے شهادت نه کوو (بلے په بل مخ)

عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ⑩

یو داسې تجارت چه بچ کوی تاسو لره د عذاب درد ناک نه۔

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ

ایمان به راوړې په الله تعالیٰ باندې او په رسول د هغه باندې او جهاد به کوئ تاسو

فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ

په لاره د الله تعالیٰ کښې په مالونو خپلو سره او نفسونو خپلو سره

بلکه دَ صلح حدیبیه په عهد نامه کښې دَ لفظ دَ رسول الله لیکلو نه ئې انکار کوؤ نو دَ دې وجې نه الله تعالیٰ دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت باندې خپل شهادت ذکر کړو۔ او په سورة توبه او په دې سورت کښې رد دې په کتابیانو باندې چه هغوی دَ توحید په ځائې دَ شرک ته دین جوړ کړو او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې دَ مخالفت لوئې سبب هغه بیان دَ توحید او رد دَ شرک وؤ۔

ف ۱۰ ۱۱ ۱۲ دا دویم خطاب دې مؤمنانو ته او ترغیب دې جهاد ته په ذکر دَ بشارت اخرویه سره او متعلق دې دَ څلورم ایت دَ دې سورت سره۔ هَلْ اَدُلُّكُمْ مقصود دَ استفهام نه امر دې لیکن دَ پوره متوجه کیدلو دَ پاره ئې تعبیر په استفهام سره کړې دې۔ عَلٰى تِجَارَةٍ دا لفظ ئې دَ دې وجې نه راوړو چه تپوس کوؤنکی (عثمان بن مظعون رضی الله عنه) ویلې وؤ چه کوم تجارت ډیر محبوب دې الله تعالیٰ ته نو جواب ئې موافق دَ سوال سره راوړو یا دا دَ پاره دَ ترغیب دې ځکه چه طبائع انسانیه په تجارت باندې ډیر خوشحالیږی ځکه چه په تجارت کښې لزوم دَ عوض وی او دا ئې په سورة توبه ۱۱۱ کښې په تعبیر دَ اشتراء سره ذکر کړې دې۔ تُنْجِيْكُمْ الخ دا اشاره ده فرق دَ تجارت دنیویه او اخرویه ته یعنی په دې تجارت کښې ګټه ضرور شته او ابدی ګټه ده او دَ خسران هیڅ احتمال پکښې نیشته او دنیوی تجارت خو داسې نه وی۔

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ الخ دا تفسیر دَ تجارت دې یعنی دَ خرخوؤنکو (چه مؤمنان دی) دَ طرف نه ایمان او جهاد بالمال والنفس دې۔ ایمان ئې دَ جهاد

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿١١﴾

دا كار غوره دے تاسو لره كه چرے تاسو پوهه لرے۔

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ

جنتونو ته داخل به كړى تاسو او ستاسو دَ گناهونو بخنه به اوكړى تاسو ته

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً

چه بهيږى لاندے دَ هغے نه وَلے او كورونه دَ اوسيدلو مزيدار

فِىْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٢﴾

په باغونو دَ هميشوالى كښ دا كاميابى لويه ده۔

دَ قبوليت دَ پاره ذكر كړے دے ځكه چه جهاد بغيرَ ايمان نه فائده نه كوى نو مراد دَ دے نه دوام دَ ايمان دے ځكه چه دوى ته ئے اٰمَنُوْا په خطاب كښ ويلے دى۔ وَتُجَاهِدُوْنَ مراد دَ دے نه قتال فى سبيل الله دے په قرينه دَ تخلودم آيت سره بِاَمْوَالِكُمْ دَ مال خرچ كولو ته اول او هر وخت ضرورت دے په نسبت دَ نفس سره دَ دے وجے نه اموال ئے مقدم ذكر كړو۔ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ سوال :- خيريت دَ جهاد په علم دَ مخاطبينو پاندے موقوف نه دے نو دلته ئے دَ څه وجے نه دا شرط اولګوؤ۔

جواب :- دا شرط حقيقةً نه دے بلكه مقصود په دے كښ تيزى وركول دى په منلو دَ دے حكم پاندے۔ يا اِنْ په معنىٰ دَ اِذْ سره دے۔

يَغْفِرْ لَكُمْ اه دا ذكر دَ عوض دے دَ جانب دَ اشتراء كوونكى چه الله تعالىٰ دے۔ يَغْفِرْ مجزوم دے په سبب دَ شرط پټ سره يعنى اِنْ تُؤْمِنُوْا وَتُجَاهِدُوْا۔ او قرطبى دَ مبرد او زجاج نه نقل كړيدى چه تؤمنون (په سر دَ آيت كښ) په معنىٰ دَ اٰمِنُوْا امر سره دے دَ دے وجے يغفر مجزوم دَ دوجے دَ جوابِ امر نه او فرّاء ويلے دى چه دا جواب دَ استفهام دے چه په (هل تؤمنون و تجاهدونَ) كښ معنىً مراد دے۔ ذُنُوْبَكُمْ هر كله چه ايمان او جهاد دواړه يو ځائے ذكر كړيدى نو ذنوبكم ئے بغير دَ مِنْ نه ذكر كړے دے دَ پاره دَ عموم يعنى ټول ګناهونه (پائے په بل مخ)

وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ

او بل نعمت چه خوښوئ تاسو هغه. (چه هغه) مدد دے د طرف د الله تعالیٰ نه او کامیابي

قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

نژدے ده. او زیرے ورکړه مؤمنانو لره. اے ایمان

آمَنُوا كُونُوا أَنصَارَ اللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ابْنُ

والو شئ مدد کوونکي د دین د الله تعالیٰ لکه چه وئیلي دي عیسیٰ ځوئ

مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّينَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ ۖ

د مریم حواریینو خپلو ته څوک دي ما سره مدد کوونکي (د پاره د نزدیکیدلو) الله تعالیٰ ته

په دے بخلے کیږي. او مغفرت د ګناهونو په اصل کښ مقدم دے په دخول د جنت باندے ځکه چه سړۍ د وصف د ګناه نه جنت ته حاصلیږي د دے وجے نه یغفر یئ مقدم کړیدے په یدخلکم جنات باندے. طَيِّبَةً یعنی داسے مساکن چه د زړونو د خوشحالئ ټول اسباب به پکښ وی.

فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ د اول جنات نه مراد دارالثواب دے چه الله تعالیٰ د عامو مؤمنانو د پاره تیار کړیدے او مختلفو نعمتونو باندے مشتمل دے او د دویم جنات نه مراد باغات د اونو بوټو دی یعنی دا مساکن به په باغونو کښ دننه وی ګیرچاپیره به د ددوی نه اونے وی.

عَدْنٍ اقامت ته وئیلے کیږي یعنی د مزو حاصلولو د پاره به د جنت نه بهر وتلو ته ضرورت نه پریوځي.

۱۳ دا بشارت دنیویه دے. وَأُخْرَىٰ عطف دے په تجارت باندے یا په تقدیر د لَكُمْ تِجَارَةٌ یا نِعْمَةٌ أُخْرَىٰ.

نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ دا بدل دے د أُخْرَىٰ نه یا پکښ لكم مقدر دے او تفسیر دے د اخرىٰ د پاره. تُحِبُّونَهَا دلیل دے چه د صحابه کرامو محبت د جهاد او د نصرت الهیه او د فتح د حق سره وؤ د دُنیا د نور متاع سره د هغوی محبت نه وؤ. وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ اشاره ده چه بشارت دنیویه اخرویه ټول د ایمان په وجه دی.

قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنْصَارُ اللّٰهِ فَآمَنَتْ

اووېل حواريانو مونږ مددګار د دين د الله تعالىٰ نو ايمان راوړو

طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ

يو ډله د بني اسرائيلو نه او كفر اوكړو بله ډله

فَأَيَّدْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ

نو كلك كړل مونږ هغه كسان چه ايمان ئې راوړے وو په دشمنانو د دوی باندے

فَأَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ﴿۱۴﴾

نو شول هغوی غالب

۱۴: دا دريم خطاب دے د پاره د تاكيد د حكم د جهاد او په دېكښ ترتيب دے چه اول اعلان دے د نصرت كولو بيا دعوت كول دی بيا مقابله كول دی د ‌ډشمنانو د دين سره بيا حصول د تائيد د الله تعالىٰ دے.

أَنْصَارُ اللّٰهِ مضاف محذوف دے يعنى أَنْصَارُ دِيْنِ اللّٰهِ يا لام مقدر دے يعنى أَنْصَارًا لِّلّٰهِ او په دے تعبير كښ تاكيد دے چه په نصرت د دين سره انسان په ډله او جماعت د الله تعالىٰ كښ داخليږى كَمَا قَالَ الخ

سوال:- د كُونُوا انصارالله تشبيه د قال عيسىٰ سره صحيح نه ده ځكه چه د فعل د قول سره تشبيه صحيح نه وى؟

جواب:- په كلام كښ تقدير دے يعنى قُلْ يَا مُحَمَّدُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ كُوْنُوا الخ يا كونوا انصارالله بسبب قول النبى صلى الله عليه وسلم مثل قولِ عيسىٰ -

لِلْحَوَارِيِّيْنَ الخ د حور نه مأخوذ دے سپين والى ته ويلے كيږى لكه حُوْرٌ عِيْنٌ - نو حوارى سپين زړے مخلص راز دار دوست ته ويلے كيږى - او كله خاص وى لكه " لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيٌّ وحوارى زبير " (حديث) او كله عام وى لكه بل حديث كښ راغئ چه " د هر نبى په امت د هغه كښ حواريين او اصحاب وى چه يَهْتَدُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَيَقْتَدُوْنَ بِأَمْرِهٖ ".

فائده: سورة العمران ۵۲ كښ فرمائيلى دى قَالَ مَنْ أَنْصَارِيْ إِلَى اللّٰهِ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ - او په دے ايت كښ قال عيسى بن مريم للحواريين فرمائيلى دى (رپاتے په بل مخ)

1502

نو معلومه شوه چه په دے کښې ترتیب دے هغه دا دے چه اول خو عیسیٰ علیه السّلام عام اعلان اوکړو چه زما سره په دین دَ الله تعالیٰ کښې څوک ملګرتیا کوی یعنی ایمان راوړی نو حواریینو اجابت اوکړو (دا دَ آل عمران دَ ایت مقصد دے) بیا ئے حواریینو ته اویل چه مَنْ اَنْصَارِی یعنی څوک دعوت کوئے حق ته سره دَ مصیبتو نو ته حواریینو اویل چه مونږ دے ته تیار یو (دا دَ دے ایت مقصد دے) نو معلومه شوه چه حواریین دوه قسمه دی عام چه صرف دَ ایمان اعلان کوی بل خاص چه دعوت کوونکی وی په اخلاص سره۔
فَآمَنَتْ طَّآئِفَةٌ" شربینی ویلے دی چه دلته تقدیر دے یعنی حواریینو دعوت شورو کړو په بنی اسرائیلو کښې نو هغوی خو اول دوه ډلے شوے چا ایمان راوړو نو هغوی ته نصاری ویلے کیدل او چا کفر اوکړو نو هغوی ته یهود ویلے کیدل بیا روستو دَ رفع دَ عیسیٰ علیه السّلام ته اسمان ته، نصاریٰ مختلف شول چا اُویل چه عیسیٰ علیه السّلام الله دے هغه یعقوبیه دی چا اُویل چه ځوئے دَ الله دے دا نسطوریه دی او څوک په تثلیث باندے قائل شول او هغه ملکانیه دی او څوک په توحید باندے پاخه وو او په هغوی کښې هم درے ډلے پیدا شوے۔ مجاهدین، دعوت کوونکی او ډے دواړو لره یهودیانو قتل کړل او راهبان لکه چه سورة حدید کښې ذکر شویدی۔
فَاَیَّدْنَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا تائید اوغلبه دَ دوی په حجت سره وه او بیا دَ دوی غلبه راغله په سبب دَ بعثت دَ اخری نبی صلی الله علیه وسلّم سره یعنی هغه دَ دوی دَ عقیدے تائید اوکړو چه عیسیٰ علیه السّلام الله او ابن الله نه دے بلکه عبد او رسول دَ الله تعالیٰ دے۔

الحمد لله تفسیر دَ سورة صف په فضل دَ الله تعالیٰ سره ختم شو

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ ۶۲ مَدَنِيَّةٌ ۱۱۰	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه څيزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څيزونه چه په زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الجمعة

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے. اوله وجه داده چه په هغه سورت کښ زيغ دَ زړونو دَ يهوديانو ذکر وو نو په دے سورت کښ ذکر دَ اثارو دَ زيغ دَ هغوی دے. دويمه وجه داچه په مخکښ سورت کښ ترغيب وو جهاد ته نو په دے سورت کښ زجر دے مانعينو دَ جهاد ته. دريمه وجه داچه په هغه سورت کښ ترغيب وو جهاد ته نو پکار سورت کښ ترغيب دے او ربدلو دَ خطبهٔ جمعے ته دَپاره دَ تذکير دَ مسائلو دَ جهاد. څلورمه وجه په هغه سورت کښ ذکر دَ صفونو دَ قتال وو نو په دے سورت کښ ذکر دَ صلوٰة جمعه دے چه په هغے کښ دَ صفونو جوړولو طريقه ايزده کول دی. پنځمه وجه په سورة صف کښ بشارت وو په بعثت دَ اخری نبی صلی الله عليه وسلم سره نو په دے سورت کښ خبر ورکوی په راتللو دَ هغه سره. شپږمه وجه داده سورة صف کښ زجر وو په ترک دَ عمل سره نو په دے سورت کښ مثال دَ دغه کسانو ذکر کوی دَ حمار (خر) سره.

دعوی دَ سورت. رد دے په درے دعوو دَ يهوديانو سره دَ رد دَ شرک فی العلم والتصرف ته او دَ هغے دَپاره ئے نهه اسماء حسنیٰ ذکر کړيدی.

خلاصه دَ سورت. اول ذکر دَ توحيد دے په تسبيح سره بيا صداقت دَ رسول دے په درے ايا تونو کښ بيا رد دے په اوله دعویٰ دَ يهوديانو باندے چه په فخر سره ئے ويل چه مونږ علماء يو او تاسو اميان يئ دَ هغے جواب په ۵ کښ دے چه بے عمله عالم خو پشان دَ خر وی. دويم رد دے په دويمه دعویٰ باندے دوی فخر کوو چه مونږ اولياء الله يو (يا تے په بل مخ)

الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

بادشاه دے ډیر پاک دے زورآور دے حکمتونو واله دے.

هُوَ الَّذِیْ بَعَثَ فِی الْاُمِّیّٖنَ رَسُوْلًا

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه اولیږلو ئے په آن پوهو کښی رسول

مِّنْهُمْ یَتْلُوْا عَلَیْهِمْ اٰیٰتِهٖ وَ یُزَکِّیْهِمْ

دَ دوی دَ جنس نه بیانوی په دوی باندے ایاتونه دَ الله تعالیٰ او خالی روی ته پاک اخلاق

جواب اوشو په درے ایاتونو کښی په دعوت دَ مبا هلے سره - دریم فخر کول وو دَ دوی په یوم السبت سره دَ هغے جواب اوشو په ذکر دَ عظمت دَ ورځ دَ جمعے سره په خطبه او صلوٰة سره بیا ترغیب دے حلال کسب ته روستو دَ فارغ کیدلو دَ موځ دَ جمعے ته او ترغیب دے اوریدلو دَ خطبے ته او پریخودل دَ مال و تجارت وغیره دَ دُنیا.

تفسیر په سے کښی دعوی دَ توحید ده په ذکر دَ تسبیح سره او په تسبیح کښی په دے خاص تعبیر سره اشاره ده چه الله تعالیٰ مَلِك دے نو دَ رعیت (چه دا امت دے) دَ اصلاح دَ پاره ئے اخری رسول را اولیږلو او قُدُّوْس دے یعنی په هغه باندے اعتراض نیشته په تشبیه ورکولو دَ بے علمه مُلیانو دَ حمار سره او عَزِیْز دے ویره ته کوی دَ چا دَ دعوے دَ ولایت نه په دروغه سره او حَکِیْم دے په مقرر کولو دَ ورځ دَ جمعے کښی دَ پاره دَ خاص عبادت.

یُسَبِّحُ په صیغه دَ فعل مضارع سره ذکر کړو او تیر سورتونو (حدید، حشر، صف) کښی په فعل ماضی سره وو اشاره ده دوام او احاطه دَ هرے زمانے ته په تسبیح ویلو سره دَ سبّح عموم دَ زمانو دے او مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ عموم دَ مکان دے سره دَ عموم دَ زمانیاتو او مکانیاتو نه.

الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الخ په دے صفاتو کښی روستو دَ موصوف نه اشاره ده چه استحقاق دَ تسبیح دَ الله تعالیٰ دَ ذات او دَ صفاتو دواړو دَ وجے نه دے.

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۚ وَاِنْ كَانُوْا

او تعلیم ورکوی دوی ته د قرآن او د سنت اګر چه دوی ووُ

مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۙ﴿۲﴾ وَّاٰخَرِيْنَ

مخکښ د دے نه خامخا په ګمراهئ ښکاره کښ او نور خلق (روستو)

۳ـ روستو دَ توحید نه صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلم ذکر کوی او اشاره ده چه تسبیح دَ انسانانو الله تعالیٰ لره په طریقه دَ رسول سره ضروری ده او دَ وجے دَ استقلال دَ دے مسئلے نه په ماقبل باندے عطف نه دے کړے بحث په معنیٰ دَ ارسل سره دے یا په معنیٰ دَ پیدا کولو دے۔

فِي الْاُمِّيّٖنَ اُمّی په اصل کښ هغه چا ته وئیلے کیږی چه نه ئے لوستل کړے وی او نه لیکل ورځی او دلته مراد مقابل دَ کتابیانو دے لکه چه په سورة العمران ۲۰ کښ دی یعنی هغه څوک چه آسمانی کتاب هغوی له نه وؤ ورکړے شوے نو هغه دا ټول عرب دی۔

او اُمّی صفت دَ نبی صلی الله علیه وسلم په سورة اعراف ۱۵۷ کښ ذکر دے نو دَ نبی صلی الله علیه وسلم اُمّی صفت سره دَ نبوت او رسالت نه دا دَ مدح صفت دے ځکه چه دا معجزه ده او دلیل دَ صداقت دَ هغه دے لکه سورة عنکبوت ۴۸ کښ دے ته اشاره ده او په اُمیین (عرب) کښ رالیږل پدے طریقه سره دی چه دَ عربو په هره قبیله کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم قرابت دَ پلار یا دَ مور دَ طرف نه وؤ ماسیوا دَ بنی تغلب نه ځکه چه په هغوی کښ نصرانیت وؤ۔ او په عرب (اُمیین) کښ دَ بعثت حکمت دا دے چه دَ هغوی نسب دَ عجمو دَ ټولو نسبونو نه اوچت دے او بیا قریش او په هغوی کښ بنی هاشم خو دَ ټول عالم دَ خاندانونو او قبیلو نه اوچت دی نو الله تعالیٰ خپل آخری نبی په دا سے قوم او نسب کښ رااولیږلو چه دَ نسب په لحاظ سره هغه ته څوک سپک او نه ګوری لکه چه په حدیث دَ هرقل کښ هم راغلے دی چه الله تعالیٰ انبیاء په اوچت نسب کښ رالیږی۔

نو لفظ دَ فی الامیین نص صریح دے په دے خبره باندے چه نبی صلی الله علیه وسلم عربی دے نو څوک چه دَ هغه رایئے په بل مخ)

مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ③

دَ دوی نه چه نه دی رسیدلے هغوی ته په مرتبه کښی او خاص الله تعالیٰ زور اور حکمتونو والا دے۔

په عربیت کښې شک یا انکار کوی نو دا کافر دے۔ رَسُولًا مِّنْهُمْ دَ جنس دَ دوی نه دَے یعنی بشر دے او دا هم صریح نص دے په رسالت او په بشریت دَ نبی صلی الله علیه وسلم باندے نو دَ دے نه انکار یا په دے کښی شک کول هم کفر دے لکه چه آلوسی په تفسیر روح المعانی دَ سورة آل عمران په تفسیر کښی دا سے تفصیل لیکلے دے۔ دا درے صفات دی دَ نبی صلی الله علیه وسلم عربیت، رسالت، بشریت بیا دَ ے کارونه دَ هغه ذکر کوی اول يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ مراد دَ تلاوت نه بیان دَ قرآن او دعوت ورکول دی قرآن ته نو دا مرتبه دَ دعوت او دَ تبلیغ ده او نصاب دَ دے آیاتو نه دَ قرآن کریم دی۔ دویم کار وَيُزَكِّيهِمْ مراد دَ دے نه طریقه خودل دَ اعمالو او اخلاقو ده دَ هغے اوقات، مقادیر، کیفیات او هیئات خودل او دا مرتبه دَ عمل کولو او دَ عمل خودلو ده چه هغه مقصد دَ دعوت او دَ تعلیم دے او دَ دے وجے نه تزکیه ئے په مینځ دَ دعوت او دَ تعلیم کښی ذکر کړیده چه دا اصل مقصود دے او دیته علم التزکیه او علم الاخلاق هم وئیلے کیږی۔ لیکن دیته تصوف او دَ صوفیت نوم کیخودل صحیح نه دی ځکه چه منقول شرعی نوم پریخودل او غیر منقول نوم استعمالول دَ شرعے نه خلاف کول دی لکه چه په حدیث سره ثابت ده چه عَتَمَه نوم دَ عشاء دَ پاره مه استعمالوئے۔ او دریم کار وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ او دا مرتبه دَ تعلیم او تدریس ده او نصاب دَ هغے قرآن او حدیث دے دَ قتاده روایت دے او امام شافعی رحمه الله په الرساله کښی هم ذکر کړیدی چه مراد دَ حکمت نه سنت دے۔ دا صفات او کارونه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په سورة بقره ۱۲۹ ۱۵۱ او سورة آل عمران ۱۶۴ کښی هم ذکر کړے شویدی۔ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ دا صریح دلیل دے چه بغیر دَ ایمان او دَ تابعدارئ دَ رسول نه بغیر نه ټولے لارے دَ گمراهئ دی او دا رنګ دَ هرے گمراهئ نه دَ نجات ذریعه صرف تابعداری دَ قرآن او دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم ده۔

۳۔ دا عطف دے په ضمیر دَ یعلمهم باندے ځکه چه معلم دَ روستنو هم په اصل کښی رسول الله صلی الله علیه وسلم دے اگرچه په واسطه سره دے یا معطوف دے په الامیین باندے۔ بنا په اوله توجیه باندے مراد دَ آخرین نه تمام هغه مؤمنان دی که عرب وی او که عجم وی چه دَ صحابه کرامو نه روستو دی تابعین او تبع تابعین او نور مؤمنان تر قیامته پورے او بنا په دویمه توجیه باندے مراد عجمیان دی چه ایمان ئے راوړے دے په رسول الله صلی الله علیه وسلم

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ

دا فضل دَ الله تعالیٰ دے ورکوی ئے هغه چاته چه اوغواړی او الله تعالیٰ خاوند دَ فضل

الْعَظِيْمِ ④ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ

لوئے دے. مثال دَ هغه کسانو چه ورکړے شویده (ذمه واری) دَ تورات بیا

لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ۭ بِئْسَ

ذمه واری ئے نه ده اداکړے پشان دَ حال دَ خر دے چه پورته کوی کتابونه . بد دے

باندے ترقیامته پورے. لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ دَ دے هم دوه توجیه دی اوله دا چه نه وُو په زمانه دَ هغوی کښې او په هغوی پسے راځی، دویمه توجیه دا ده چه نه دی یوځائے شوی دَ صحابه کرامو سره په فضیلت او مرتبه کښې، دا توجیه آلوسی په روح المعانی کښې ذکر کړیده اګرچه لفظ دَ لَمَّا په معنیٰ اصلی سره (چه تراوسه پورې کار نه وی او امید ئے دَ کیدلو وی) دَ دے مناسب نه دے چه دا امید نیشته چه تابعین او روستنی خلق دِ دَ صحابه کرامو فضیلت ته اورسیږی. او په دے توجیه کښې اشاره ده چه یو تابعی اګرچه لوئے علم او تقویٰ والا وی دَ یو ادنیٰ صحابی مرتبے ته نشی رسیدلے لکه چه آلوسی ذکر کړیدی چه دَ عبدالله بن مبارک نه تپوس اوکړے شو چه عمر بن عبدالعزیز غوره دے او که معاویه رضی الله عنه نو هغه جواب کښې اُویل چه هغه دوړے او غُبار چه دَ معاویه رضی الله عنه دَ اس په پوزه کښې داخل شویدی (ا نخته دی) هغه دَ الله تعالیٰ په نیز دَ سل عمر بن عبدالعزیز نه افضل دی. (فائده) لفظ دَ فی الامیین په باره کښې سوال دے چه دا لفظ دلالت کوی چه زمونږ دَ نبی صلی الله علیه وسلم رسالت خاص دے په امیین (عرب) پورے او دَ دے وجه نه دَ ابن صیاد په روایت کښې راغلی دی چه هغه نبی صلی الله علیه وسلم ته ویلی وُو چه ته رسول ئے لیکن صرف رسول دَ امییانو ئے. جواب اول دا دے چه لفظ دَ اخرین په هر دواړو توجیهاتو سره دلالت کوی صراحتًا چه رسالت دَ هغه تولو عربو او عجمو ته عام دے. دویم جواب دا دے چه یو مَبْعُوثٌ فِيهِمْ او بل مبعوث اليهم دی په دے آیت کښې دَ مبعوث فيهم ذکر دے چه عرب دی او نبی تخاص قوم دَ عرب نه وُو او مبعوث اليهم په دے آیت کښې ذکر نه دی دَ هغے دَ پاره نور آیاتونه شته لکه قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا سورة اعراف ۱۵۸ او لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ سورة انعام ۱۹.

۲ په دے کښې رد دے په یهودیانو باندے چه هغوی رسالت پخپل قوم پورے خاص ګنړلو. ذٰلِكَ اشاره ده بعثت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په امیین کښې. (پاتے په بل مخ)

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ

مثال دَهغه قوم چه دروغژن گڼړی ایاتونه دَ الله تعالیٰ

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۵ قُلْ

او الله تعالیٰ هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته . ته اووایه

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ

اے یهودیانو که چرے تاسو دعویٰ کوئے چه یقیناً تاسو

یامطلق وحی او نبوت ته يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ لیکن دَ نورو نصوصو قطعیو نه ثابت ده چه دَ خاتم النّبیّن محمد رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه روستو هیچا له نوے نبوت نه ورکوی .

ـه روستو دَ اثبات دَ صداقتِ رسول نه زجر دے منکرینو دَ دغه رسول ته سره دَ علم نه او په دے کښ رد دے دَ اولے دعوے دَ یهودیانو هغه دا چه دوی ویل چه تاسو امیین یئے او مونږ علماء او اهلِ کتاب یو نو مونږ ستاسو نه غوره یو نو مونږ باندے لازم نه ده چه رسول امّی باندے ایمان راوړو حاصل دَ رد دا دے چه عالم بے عمله خو دَ خر پشان دے دَ هغه هیڅ غوره والے نیشته .

حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ تحمیل نه مراد مکلف کول دی په هغے باندے په عمل کولو سره او دَ هغے په بیان کولو سره یعنی دوی باندے ذمه واری کیخودے شوے وه چه دَ تورات علم به حاصلوی او په هغے باندے به عمل کوی او دَ هغے بیان به کوی . ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا یعنی دوی سره دَ علم دَ هغے نه عمل اونکړو او کتمان او تلبیس ، تحریف ئے اوکړو . كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا دَ مثال تفصیل دا دے لکه خر باندے دَ غټو کتابونو بوجه کیخودے شی نو په ملا باندے بوجه وی او دَرد دے ورله زخمی کوی او فائده ترینه هیڅ نشی اخستلے او کله دَ جهل دَ وجے نه دَ لارے په مینځ کښ لت شی نو لاره بنده کړی نو دارنګ هغه عالم دَ کتاب دَ الله تعالیٰ چه دَ هغے حفظ کوی او په لوستلو کښ ئے تکلیفونه تیروی لیکن عمل ورباندے نه کوی نو بوجه او تکلیف ور باندے پروت دے او فائده ئے هیڅ نیشته نه په دنیا کښ او نه په آخرت کښ او دا سے عالم کله دَ ضد او دَ حسد دَ وجے نه دَ حق والو سره مقابلے کوی او په حق لار کښ رکاوټ پیدا کوی . اَسْفَارًا جمع دَ سفر ده غټ کتاب ته ویلے کیږی اشاره ده دا او ئے مُلا دے لیکن بے عمله دے دا ایت دَ عموم دَ الفاظو په وجه سره دَ دے امت بے عمله عالمانو ته هم شامل دے بلکه ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین کښ ویلے دی چه هغه چا ته هم شامل دے چه حفظ دَ قران کوی ختمونه ئے کوی لیکن هیڅ تدبر او فکر پکښ نه کوی او اتباع ئے نه کوی او فیصلے ورباندے نه کوی او نه ئے په مطلب ځان پوهوی او په حدیث دَ مسند

أَوْلِيَاءُ لِلّٰهِ مِنْ دُوْنِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ

دوستان دَ الله تعالىٰ يئ سيوا دَ نورو خلقو نه نو اوغواړئ مرګ که چرے تاسو يئ

صٰدِقِيْنَ ﴿٦﴾ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗۤ أَبَدًا ۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيْهِمْ ؕ

رښتني . او نه غواړي دوی مرګ هيچرے په وجه دَ هغه عملونو چه مخکښ ليږلي دي لاسونو دَ دوی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ ۢ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٧﴾ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِيْ

او الله تعالىٰ عالم دے په ظالمانو باندے . ته اُووايه يقيناً هغه مرګ

احمد کښ راغلي دي چه چا دَ جمعے دَ خطبے په وخت کښ خبرے کولے نو دَ دهٔ مثال پشان دَ خره دے چه کتابونه پورته کوی. بِئْسَ مَثَلُ اه يعني دا امثال په اصل کښ دَ مکذبينو دَ کتاب الله دي چه په تورات کښ ذکر دَ خاتم النبيين شته او دوی انکار کوی او په قرآن کښ توحيد شته او دوی انکار کوی ليکن انکار او تکذيب دَ يهوديانو او دَ هغوی پشان دَ علماء سوء په طريقه دَ تحريف او تلبيس او کتمان سره دے په صريح انکار سره نه دے. وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ په دے کښ اشاره ده چه دا سے عالمان خو ظالمان دي او دَ توفيق دَ هدايت نه محرومه دي.

سـ۶ په دے کښ رد دے په دويمه دعوىٰ دَ يهوديانو باندے هغه دا ده چه دوی ويل تاسو زمونږ نبيانو ذکر کوئ په مثال ورکولو دَ حمار سره مونږ دَ الله تعالىٰ اولياء (دوستان) يو لکه په سورة مائده سـ۱۸ کښ او تاسو (اے مؤمنانو) په ګمراهئ کښ يئ نو دَ دے دعوے ترديد کوی په دعوت مباهلے سره. هَادُوْا په معنىٰ دَ تهوّد وا سره دے يعني دين دَ يهوديت ئے اختيار کړيدے. أَوْلِيَآءُ لِلّٰهِ په سورة بقره سـ۹۴ کښ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللّٰهِ ذکر دي په دواړو کښ يو قسم ملازمه ده ځکه چه جنت والا دَ الله تعالىٰ دوستان دي او دارنګ برعکس هم. ليکن په سورة بقره کښ بحث وو په دعوى دَ جنت باندے لکه په سـ۸۰ سـ۱۱۱ کښ دَ دے وجے نه هلته ئے دَ مباهلے په باره کښ دَ دوی دعوى دَ جنت ذکر کړيده او دلته صرف دَ دوی مقصد خپل فضيلت ښکاره کول وو او هغه متعلق دے په دعوى دَ ولايت پورے.

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ ابن کثير ويلي دي چه دعا دَ مرګ اوغواړئ په ګمراه باندے دَ دواړو فريقونه او په سورة بقره کښ هم ابن کثير دا تفسير کړے دے. او ابن قيم هم په بدائع التفسير (دَ سورة بقره) کښ (پاڼے په بل مخ)

تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ

چه تاسو تختیده کوئ د هغې نه یقیناً هغه ستاسو مخې له راتلونکې دے بیا به اوګرځولې شئ تاسو

اِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ

هغه ذات ته چه عالم دے په هر پټ او ښکاره باندے نوخبر به درکړی تاسو لره

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ ع ۱

په هغه عملونو باندے چه تاسو یې کوئ . اے ایمان

دا توجیه ذکرکړیده او دا مباهله د یهودیانو سره ده او په سورة اٰل عمران ۶۱ کښ مباهله د نصاری سره ده او په سورة مریم ۷۵ کښ مباهله د مشرکینو عوامو سره ده. او هرچه مشهور تفسیر د دے ایت دے نو په هغې باندے اعتراض دا دے چه په مینځ د ولایت او د دُعا د مرګ کښ ملازمه نیشته د دے وجې نه انبیاء علیهم السلام یقیناً دوستان د الله تعالیٰ دی لیکن هغوی د مرګ تمنا نه ده کړے او دارنګ په حدیث صحیح کښ وارد دی چه هیڅوک دِ د مرګ تمنا نه کوی او نه دے د مرګ دُعا ځان د پاره غواړی.

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ اَبَدًا دا نفی د مباهلے کولو د یهودیانو ده.

بِمَا قَدَّمَتْ اَیْدِیْهِمْ یعنی یهودیان پوهیږی چه مونږ خو کافر او ګمراه یو او دا نبی په حقه باندے دے که مونږ د ده سره مباهله اوکړو نو تباه به شو. په سورة بقره ۹۵ کښ دا نفی یې مؤکد کړیده په حرفِ لَنْ سره ځکه چه هلته دعویٰ د جنت د دوی په تاکید د لَنْ سره ده په دواړه ایاتونو کښ ۹۴ ۱۱۱ نو جواب د تاکید هم په تاکید سره مناسب وی.

۸ په دے کښ تخویف دے چه په عدم تمنا د مرګ سره خو د مرګ نه بچ کیدلے نشئ نو ضرور ده چه تو به او باسئ. تَفِرُّوْنَ مراد د فرار نه د مرګ تمنا نه کول دی او دارنګ هر انسان چه میدانِ قتال نه تیختیده کوی د مرګ د ویرے نه یا چه د یو مقام او علاقې د طاعون نه د مرګ ویرے د وجې نه تیختیده کوی نو هغه ټول په دے کښ داخل دی. فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ د دے په معنیٰ کښ تاکید دے پس دے وجې سره چه لِقاء مخامخ راتللو ته ویلے کیږی یعنی په فرار سره انسان د هغه ځیز نه بچ کیدلے شی چه روستو وروستو ورپسے راځی

آمَنُوْٓا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوةِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ

والو کوم وخت چه آواز اوکړے شی دَ پاره دَ مونځ دَ ورځ دَ جمعے نه

فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ

نو ذر ځان اورسوئ ذکر دَ الله تعالیٰ ته او پریګدئ خرڅول دا کار

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ⑨

غوره دے تاسو لره که چرے تاسو پوهیږے .

او مرګ خو دَ مخ نه راځی نو دَ دے نه فرارکول هیڅ فائده نه ورکوی .

سوال :. فاَ په فَاِنَّهٗ کښ دَ جزاء ده او شرط خو نیشته ؟

اول جواب دا دے چه موصول (الذی) کله کله متضمن وی معنیٰ دَ شرط لره یعنی اِنْ فَرَرْتُمْ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ .

دویم جواب دا دے چه خبر دَ اِنَّ پټ دے او فاَ دَ پاره دَ تعلیل ده یعنی هغه مرګ چه تاسو ترینه تیښته غواړئ نشئ بچ کیدلے دَ هغے نه ځکه چه ستاسو مخے له راځی . ثُمَّ تُرَدُّوْنَ اه په دیکښ بعث بعد الموت مراد دے او ثُمَّ دلالت کوی چه په مینځ دَ مرګ او دَ قیامت کښ ډیره موده شته چه هغه حالت برزخیه دے یا مراد دَ دے رد نه سوال او عذاب دَ قبر دے او ثم دَ پاره دَ ترتیب ده بغیر دَ تاخیر نه . عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ دا صفت خاصه دَ الله تعالیٰ دے دَ دے وجے نه ئے موصوف حذف کړے دے.

سو ربط دَ دے ایت دَ ما قبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله دا چه دارد دے دَ یهودیانو په دریمه دعویٰ باندے چه دوی فخر کوؤ چه زمونږ دَ پاره ورځ دَ خالی دَ تعظیم شته او تاسو دَ هغے تعظیم نه کوئے !

حاصل جواب دا دے چه زمونږ دَ پاره هم ورځ دَ تعظیم شته چه ورځ دَ جُمعے ده او دا دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه انتخاب دے او ستاسو ورځ دَ خالی خو ستاسو خپل انتخاب دے او بیا درباندے الله تعالیٰ دَ هغے تعظیم فرض کړو لکه چه سورة نحل ۱۲۴ کښ ذکر دی . دویمه وجه دَ ربط دا ده چه یهودیان دَ دنیا دَ محبت دَ وجے دَ مرګ دَ ځایونو نه تیښته کوی لیکن مؤمنان دَ الله تعالیٰ دَ ذکر ځایونو ته سعی کوی . دریمه وجه دا ده چه دَ

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ

نو هرکله چه پوره کړے	مونځ	نو خواره شئ	په	ملک کښې

حماريت (خرتوب) دَ بهيميت نه دَ. بچ کيدلو دَ ايمان په مقتضٰی باندے عمل اوکړے چه هغه دَخير دَ پاره جمع کيدل دي.

إِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مراد دَ نداء نه نداءِ شرعي ده چه هغه اذان شرعي دے ځکه ابن حجر رحمة الله فرمائيلي دي چه کلمات شرعيه به حمل کيديشي په معاني شرعيو باندے خو پورے چه څه قرينه اړوونکے دَ هغے نه نه وي (فتح الباري) اومراد دَ دے نه هغه اذان دے چه کله خطيب په منبر باندے کيني نو دَ هغه مخے ته ويلے کيږي او امام بخاري او نورو محدثينو ذکر کړيدي چه دَ نبي صلى الله عليه وسلم او ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په زمانه کښې اول اذان دَ جمعے هغه وخت ويلے کيدو چه خطيب به په منبر باندے کيناستلو او حديث دَ ابوداؤد کښې دي چه دا اذان به په دروازه دَ مسجد کښې دَ امام مخامخ ويلے کيدلو. هرکله چه دَ عثمان رضي الله عنه په زمانه کښې خلق ډير شول نو بيل اذان ئے زيات کړو دَ مسجد نه بهر دَ يو کور دَ پاسه چه هغے ته زوراء ويلے کيدلو او مؤرخينو ليکلي دي چه هشام بن عبد الملك دا اذانِ عثماني بيا په مسجد کښې داخل کړو. نو په دے ايت کښې په اتفاق سره مراد دَ اذان نه اذان دَ خطبے دے اګرچه اذانِ عثماني هم سنت دَ خليفه دے هغے ته شرعًا بدعت نه ويلے کيږي.

فائده :- سورة مائده ۵۸ کښې اذان دَ ټولو مونځونو دَ پاره دے او په دے ايت کښې اذان دَ جمعے دے په دليل دَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ سره. او په ايت دَ سورة مائده کښې الى الصلٰوة ذکر دے او په دے ايت کښې للصلٰوة ذکر دے وجه دَ فرق (والله اعلم) داده چه دَ هر اذان او اقامت په مينځ کښې فاصله وي کم از کم دَ دوه رکعتونو په مقدار او اذان دَ خطبے دَ خطبے او مونځ سره متصل دے او خطبه هم په حکم دَ مونځ کښې ده نو لفظ دَ إلٰى چه په لرے والي دلالت کوي دَ اول سره ئے ذکر کړو او حرف دَ لام چه په نزديکت دلالت کوي نو هغه ئے په دے ايت کښې راوړو.

مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ په معنٰی دَ فِي سره دے ليکن په حرف دَ مِنْ راوړلو

وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيرًا

او اولټوئ د فضل دَ الله تعالیٰ نه او یادوئ الله تعالیٰ لره ډېر

کښې اشاره ده چه دَ ورځ دَ جُمعې په بعضِ حصّه کښې دا اذان دے چه هغه وخت دَ ظهر دے دَ ټولے ورځ دَ جمعې اذانو نه مراد نه دی.

فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ (سوال) سعی منډه وهلو ته وئیلے کیږی او په حدیث صحیح کښې خو منع شویده چه څوک دے مونځ کولو دَ پاره منډے نه وهی بلکې عادت سره دِ رفتار کوی؟

جواب:- سعی نه مراد دلته کوشش کول او اهتمام کول او تیاری کول دی او حسن بصری نه روایت دے چه دے ته سعی بالقلب والنیة وئیلے کیږی لکه چه په سورة اسراء ۱۹ او سوره نجم ۳۹ او سورة اللیل ۴ کښې راغلے دی. نو په فَاسْعَوْا کښې هغه اعمالو ته اشاره ده کوم چه دَ صلوٰة جمعې دَ تیارئ دَ پاره په سنت سره ثابت دی لکه غسل کول، خوشبو لګول، مسواک کول، پاکے جامے اغوستل، دَ وخته مسجد ته تلل، امام ته نزدے اودریدل وغیره.

ذِكْرِ اللّٰهِ مراد دَ دے نه اول خطبه ده او بیا صلوٰة دے دَ دوی په مینځ کښې بل عمل نیشته دے. او ذِکرِ دَ الله تعالیٰ عام دے قرآن لوستل، حدیث ذکر کول، خلقو ته دَ دین دَ الله تعالیٰ احکام بیانول مونځ کول دا ټول ذکر الله ته شامل دی او په ټولو کښې سنت طریقه شرط ده.

وَذَرُوا الْبَيْعَ مراد دَ دے هر هغه شغل دے چه منع کوونکے دے خطبے ته دَ رسیدلو او اوریدلو نه لکه غفلت، ملازمت، زمینداری، تجارت ټول پکښې داخل دی او تخصیص دَ بیع ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه دَ جمعې په ورځ اکثر خلق دَ بانډو نه راغلے وی هغه په سودا اخستلو کښې مشغولیږی نو خرڅوونکو ته اوئیلے شول چه تاسو خرڅول پریږدے نو چه بیع نه وی نو شراء هم نشی کیدلے. او دا دلیل دے چه دا اشغال کول روستو دَ دویم اذان نه حرام دی. او اشاره ده چه دَ مؤمن دَ پاره دین اهم دے دَ دنیا دَ کارونو نه.

ذَرُوا دا هغه ځائے استعمالیږی چه دَ یو کار باعث موجود وی یا شوروع وی لیکن پریخودے شی یعنی که بیع شوروع وی لیکن دَ اذان ثانی رائے په بل مخ)

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝١٠ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً

دَ دے دَپاره چه کامیاب شئ - او هر کله چه دوی اُوینی تجارت

اَوْ لَهْوَا انْفَضُّوْٓا اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ط

یا لوبے نو روان شی دوی هغے ته او پریگدی تا لره او ولاړ

اوریدلو سره به پریخودے کیږی -

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ دا اشاره ده مجموعه ما قبل ته سعی کول او بیع او نورمشاغل پریخودل او خطبه اوریدل او مونځ کول خَيْرٌ اسم تفضیل دے یا صفت مشبه ده -

سك په دے کښ اشاره ده فرق ته په مینځ دَ احترام دَورځ دَ جمعے په دین زمونږ کښ او احترام دَ سبت په نیز دَ یهودیانو چه په هغوی باندے دَ سبت ټوله ورځ کښ کار دَ دُنیا حرام وو او زمونږ په دین کښ روستو دَ فراغ دَ مونځ دَ جُمعے ته امر دے په تجارت او طلب دَ روزئ سره -

فَاِذَا قُضِيَتِ مراد دَ قضا نه اداکول او پوره کول دَ مونځ دَ جُمعے دے او په دے کښ سنت بعدیه داخل دی او قاسمی ویلے دی چه روستو دَ مونځ دَ جمعے ته ځلور رکعته دَ ماسپخین رچه هغے ته احتیاطی مونځ ویلے کیږی) دا مذهبی تعصب او بے دلیله عمل دے -

فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ مراد په امر سره وجوب دَ انتشار نه دے بلکه مخالفت کول دی دَ اهل کتابو نه په تعطیل دَ ورځ دَ خالی او اتوار کښ -

وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عام دے تجارت کول ،عیادت دَ بیمار، ملاقات دَ رور مسلمان او طلب دَ علم ټولو ته شامل دے -

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا مراد دا چه هیڅ وخت دَ الله تعالیٰ دَ یاداشت نه غفلت مه کوئے په ژبه او په زړه او په طاعت سره - او مونځ دَ ماز یگر ته هم اشاره ده -

او کَثِیرًا ذکر په توحید او اخلاص او موافق دَ سنت سره راځی -

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ

ته اوایه هغه ثواب چه دَ الله تعالیٰ سره دے غوره دے دَ لوبو او دَ

التِّجَارَةِ ۚ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱﴾ ع

تجارت نه او الله تعالیٰ غوره دے دَ روزئ ورکوونکو نه۔

ع ۲ ۱۲

سلا په دے کښ زورنه ده په یو عمل سره چه دَ صحابه کرامو نه صادر شوے وو چه دَ خطبے دَ نبی صلی الله علیه وسلم په وخت کښ هغوی تجارتی سامان ته خواره شول صرف دولس کسان پاتے شول۔ داخو په هغه وخت کښ گناه نه وو ځکه چه دَ دغه وخت نه مخکښ الله تعالیٰ دا سے حکم نه وو رالیږلے لیکن تنبیه شوه دَ آئنده وخت دَ پاره۔ تو په دے کښ اشاره ده چه اوریدل دَ خطبے دَ جمعے واجب دی۔ لَهْوًا عام دے هر عمل دنیوی ته شامل دے که مباح وی او که ناجائز وی۔

قَآئِمًا په دے کښ اشاره ده چه خطبه په اولاړے پاندے ویل سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دی۔

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ اه یعنی هغه اجر او ثواب چه اوریدلو دَ خطبے او په جماعت سره مونځ اداکولو کښ دَیا هغه رزق چه په شرعی طریقے سره حاصل کړیشی وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ اشاره ده چه روزی په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ ده نو دَ هغه په طاعت سره به غوره روزی حاصلیږی۔ خَيْرِيَة نه مراد حلاله، او دَ برکت روزی ده په دُنیا او اخرت کښ۔

الحمد لله چه ختم شو تفسیر دَ سورة جمعه په توفیق دَ هغه سره۔

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ ۶۳ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۲

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ إِنَّكَ

هر كله چه راشي تاته	منافقان	دوی وائي گواهي كوو مونږ چه يقيناً	ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المنافقون

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو دے اوله وجه دا چه په سورة جمعه کښې رد وؤ په دروغو دَ یهودیانو باندے نو په دے سورت کښې رد دے په دروغو دَ منافقانو باندے۔ دویمه وجه دا چه په هغه سورت کښې زجر دے په یهودیانو باندے او په دے سورت کښې زجر دے په منافقانو باندے۔ دریمه وجه په هغه سورت کښې ئے اوفرمائیل چه دَ لهو په وجے سره خطبه اوریدل مه پریږدئ نو په دے سورت کښې فرمائیلی دی چه مالونه او اولاد تاسو لره دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه مشغول نه کړی۔ څلورمه وجه دا چه په هغه سورت کښې صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر شو نو په دے سورت کښې رد دے په هغه چا باندے چه اقرار په رسالت دَ هغه باندے په دروغه سره کوی۔

دعوی دَ سورت۔ زجر دے په منافقانو باندے په منع کولو سره دَ انفاق نه خصوصاً او په نورو قبائحو سره عموماً۔

خلاصه دَ سورت۔ رد دے اولاً په شهادت دَ رسالت باندے په دروغه سره او بیا اتلس قبائح دَ هغوی ذکر کوی۔ او بیا منع کوی مؤمنانو لره دَ تشبیه دَ منافقانو نه په اشتغال دَ مال او اولاد سره او ترغیب دے انفاق کولو ته مخکښې دَ راتللو دَ مرګ نه۔

لَرَسُوْلُ اللّٰهِ ۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ط

خامخا رسول دَ الله تعالیٰ يې او الله تعالیٰ پوهه دے چه يقيناً ته خامخا رسول دَ هغه يې

وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۚ ①

او الله تعالیٰ گواهي کوی چه يقيناً منافقان خامخا دروغژن دی۔

تفسیر: په دے ایت کښې تعریف دَ منافق ته اشاره ده چه مخامخ شهادت دَحق کوی او په باطن کښې منکروی او دَهغوی یو وصف ذکر کوی یعنی دوی دروغ وائی۔

قَالُوْا نَشْهَدُ اه شهادتِ شرعیه موافقت دَ زړه او دَ ژبے دے لیکن دوی چه داکلمه ویله نو صرف مشابهت یې کوؤ دَ مؤمنانو سره چه هغوی اَشْهَدُ او نَشْهَدُ وائی یا مراد دَ دوی دَ شهادت نه قسم کول دی۔

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اه دا جمله معترضه ده دَ پاره دَ دفع دَ وهم، هغه دا دے چه روستو جمله کښې الله تعالیٰ دَ دوی تکذیب کړے دے نو ایا دا پیغمبر دَ الله تعالیٰ رسول نه دے؟ نو جواب او شو چه یقیناً دے! دَ الله تعالیٰ رسول دے۔

وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ، (سوال) قول دَ منافقانو چه إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ داخو حق او رشتیا وؤ نو څه رنګ او ویلے شو چه دوی دروغژن دی؟ جواب په ډیرو وجوهو سره دے! اوله وجه دا ده چه شهادت موافقت دَ ژبے او دَ زړه ته ویلے کیږی او دَ منافقانو زړه دَ ژبے سره موافق نه دے نو دا شهادت نه دے او حال دا چه دوی هغې ته نوم دَ شهادت وائی نو دا دروغ دی۔

دویمه وجه دا ده چه دوی په خپل زغم کښې دروغژن دی یعنی دَ دوی په نیز إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ دَ واقع نه خلاف دے او خلاف دَ واقع نه دروغ وی۔ دریمه وجه دا ده چه دلته دَ کاذبون نه مراد کذب په دے جمله کښې مراد نه دے (إِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ) بلکه دَ دے ایت په تفسیر کښې مفسرینو واقعه لیکلے ده چه دوی ویلے وؤ چه لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ (لکه چه روستو به راشی) لیکن هرکله چه دوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مخې له راغلل نو دوی قسمونه کول چه مونږ دا وینا نه ده کړے نو انکار یې دَ خپل قول نه او کړو نو دا یې کذب دے۔

اِتَّخَذُوْٓا اَیْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ

گرځولے دی دوی قسمونه خپل ډال نو منع شول (منع کوی) دَ

سَبِیْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا یَعْمَلُوْنَ ۝۲

لارے دَ الله تعالیٰ نه یقینًا دوی بد دی هغه عملونه چه دوی کوی۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى

دا په دے وجے سره چه دوی ایمان راوړے دے بیا ئے کفر کړے دے نو مهر وهلے شویدے په

قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا یَفْقَهُوْنَ ۝۳ وَاِذَا رَاَیْتَهُمْ

زړونو دَ دوی باندے نو دوی نه پوهیږی۔ او هرکله چه ته اُوینے دوی لره

۲ په دیکښ دَ دوی درے خصلتونه ذکر کوی دا په سورة مجادله ۱۶ کښ هم ذکر دی ۔ اَیْمَانَهُمْ هرکله چه نښلیدلے وئیل په نیت دَ قسم سره او دا قسم دے لکه چه دَ اکثر اهل علم مذهب دے دَ دے وجے نه په دے ایت کښ دَ هغے نه تعبیر اوکړے شو په اَیْمَان سره او صیغه دَ جمع دَ دے وجے نه ذکر کړه چه دَ دوی دا سے قسمونه کول ډیر وو ۔ جُنَّةً لکه چه په ډال سره انسان ځان دَ ګذارد تورے او نیزے وغیره نه بچ کوی نو دا رنګ دوی په دے قسمونو سره ځان دَ سزا دنیوی او دَ قتال او دَ مؤمنانو دَ زور نے نه بچ کوی۔
فَصَدُّوْا عَنْ سَبِیْلِ اللّٰهِ ، صد لازمی او متعدی دواړه صحیح دے په لازمی معنیٰ سره مقصد دا دے چه په دروغ قسمونو سره دوی دَ حق نه محروم شول ځکه چه اصرار کول په ګناه باندے قصدًا سبب دے دَ محرومیدلو دَ حق لارے نه ۔ او په متعدی معنیٰ سره مطلب دا دے چه په دروغ قسمونو سره خلقو لره دهوکه ورکوی نو لارد دَ توحید او سنت نه ئے اړوی ځکه چه هغوی وربانده دَ رشتینی ګمان کوی ۔
۳ په دے ایت کښ دَ دوی درے اوصاف ذکر کوی ۔ ذٰلِكَ اشاره ده حکم دَ نفاق ته په دوی باندے په اول ایت کښ یا اشاره ده ټول ماقبل ته یعنی نفاق ، دروغ ویل ، قسم کول په دروغو ، دَ دین نه خلق اړول ، بد عملونه کول ۔ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا مراد دَ دے نه یو ځل ایمان او

تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ ۚ وَاِنْ يَّقُوْلُوْا تَسْمَعْ

تۀ به تعجب کښې به واچوی تالره تنې د دوی او که چرته دوی وینا کوی نو غوږ به کیږدې ته

لِقَوْلِهِمْ ۚ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ۚ يَحْسَبُوْنَ

وینا د دوی ته گویا چه دوی لرگی دی اړم کړے شوی دیوال ته گمان کوی دوی

كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ ۚ هُمُ الْعَدُوُّ فَاحْذَرْهُمْ ۚ

د هرے چغې په ځان باندے هم دوی پوره دُشمنان دی نو ځان اوساته د دوی نه

قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۚ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝۴ وَاِذَا قِيْلَ

تباه دِ کړی دوی لره الله تعالیٰ نوخه رنگ اړولے شی دوی (د حق نه) ۔ او کوم وخت چه اوویلے شی

کفر نه دے بلکه کثرت او تکرار مراد دے یعنی هر وخت ایمان ښکاره کوی نو بیا د کفر کار کوی نو بیا بیا داسے کوی لکه په سورة نساء ۱۳۷ کښې ۔ او دا سبب دے د پاره د طبع او مُهر په زړونو باندے د دے وجے نه فا ذکر کړه په فَطُبِعَ کښې او مُهر سبب دے د پاره د جهل د دے وجے نه فا ئے راوړه په فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ کښې، هغه علم چه په هغې سره د حق او باطل تمیز کیږی هغه فقاهت دے او د دے نه منافق محروم دے۔

۴ په دے ایت کښې پنځه اوصاف د منافقانو ذکر دی۔ تُعْجِبُكَ اَجْسَامُهُمْ یعنی د دوی بدنونه غټ دی او صحت والا دی مقصد دا چه دوی هر وخت د بدن په اصلاح کښې او په قسم قسم خوراکونو کښې مشغول دی خو روحانی ته توجه نه کوی۔ تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ یعنی دوی د دنیا په خبرو کښې ډیر فصیح بلیغ دی او ډیرو ښکلو کښې کشش پیدا کوی لکه چه سورة بقره ۲۰۴ کښې ذکر دی او مراد د قولهم نه د دنیا د خبرو په باره کښې خبرے کول دی ځکه چه يَعْلَمُوْنَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا (سورة روم ۷)۔ كَاَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ داسے لرگے چه دیوال ته اودرولے شوے وی نو هغه بے فائدے وی، دننه ډډ وی (یعنی مینځ ئے تش وی) کمزورے وی او یو طرف ئے لونه او بل طرف ئے اوچ وی۔ د ابادئے او د فائدے د خیزونو جوړولو د پاره صلاحیت نه لری او ظاهر کښې غټ (یا ئے په بل مخ)

لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ

دوی ته راشئ چه بخنه اوغواړی تاسو لره رسول الله (صلی الله علیه وسلم)

لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ

واړوی دوی سرونه خپل او اُوینې به ته دوی لره چه مخ اړوی

وَهُمْ مُسْتَكْبِرُونَ ۝۵ سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ

او دوی لوئی کوونکی دی . برابره خبره ده په دوی بانده

خائسته ښکاری نو د غسې حال دَ منافق دے یعنی دَ دۀ بدن هم غټ وی پټول اهتمام دَ بدن په څربولو باندے کوی لکه چه حدیث (خیرالقرون) کښې راغلی دی يُحِبُّونَ السَّمَانَةَ (خوښوی به څوربوالے).
يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ په دے کښې اشاره ده چه سړۀ دَ غټې والی بدنونو او دَ چالاکے دَ ټیے ته ډیر بزدل دی . صَيْحَةٌ ، اعلان عذاب، ایا تونه دَ تخویف دنیوی او اخروی ، زواجر ، دے ټولو ته صیحه شامل ده نو دوی گمان کوی چه دا ایا تونه زمونږ په باره کښې دی او ویریږی چه زمونږ رازونه چرته ښکاره نشی سورۃ توبه ۲۴ کښې . هُمُ الْعَدُوُّ الف لام دلالت کوی په کمال باندے یعنی په دوی کښې دَ دوستانې هیڅ جهت باقی نه دے پوره دُشمنان دَ توحید او دَ سنّت دی. قَاتَلَهُمُ اللَّهُ دا جمله خبریه پخپله معنٰی سره ده یا په معنٰی دَ دُعا ده او مراد دَ دے نه لعنت او هلاکت دے ځکه چه قتال دَ الله تعالٰی سره مستلزم دے دَ هغه تباهئ او لعنت لره.
أَنَّى يُؤْفَكُونَ یعنی سرۀ دَ وضاحت دَ دلیلونو دَ حق نه دوی په کوم دلیل سره دَ حق نه بل طرف ته اوړولے کیدیشی.
۵ په دے ایت کښې درے اوصاف دَ هغوی ذکر کوی او دلالت کوی په اصرار کولو دَ دوی په گناه باندے. وَإِذَا قِيلَ صیغه دَ مجهول دَ پاره دَ تعمیم دَ قائل او دَ وخت دَ پاره ده. تَعَالَوْا دا ماخوذ دے دَ علو نه په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه ترقیٔ ادا اوچت والی طرف ته دعوت وی نو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مجلس ته راتلل او دَ هغه دُعا او استغفار غوښتل دا لویه مرتبه حاصلول دی.

أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ط

که ته بخنه غواړے دوی لره یا بخنه نه غواړے دوی لره

لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ط اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى

هیچرے بخنه نه کوی الله تعالیٰ دوی ته یقیناً الله تعالیٰ هدایت نه کوی

الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝۶ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

قوم دین نافرمانو ته ۔ دوی داسے خلق دی چه دوی وائی

لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

خرچ مه کوئ په هغه چا چه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره دی

حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ط وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ

تردے پورے چه خواره واره شی او خاص الله تعالیٰ لره خزانے دی د اسمانونو

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ اړول د مخ او د سر په نفرت او سرکشئ سره يَصُدُّوْنَ په دے کښې معنیٰ د اعراض ده سرۀ د روانیدلو نه بل جانب ته په طریقه د انکار سره او دا صفت د منافقانو وخت په وخت نوے نوے پیدا کیږی د دے وجے نه په صیغه د مستقبل سره ئے ذکر کړو۔

وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ دا صفت علت دے د پاره د ماقبل او استکبار کښې معنیٰ د تحقیر او د سپک ګڼړلو ده یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راتلل او د هغه دُعا غوښتل سپک ګڼړی او دا صریح کفر دے۔

سُ په دے کښې د دوی یو وصف ذکر کوی یعنی هر کله چه ذکر شوه چه دوی ښکاره کفر کوی او استغفار هم نه غواړی نو د داسے انسان د پاره دُعا د نبی صلی الله علیه وسلم هم فائده نه ورکوی لکه چه سورة توبه سَ کښې تیر شویدی۔

الْفٰسِقِيْنَ هغه کسان دی چه د فسق کولو نه توبه نه کوی او دوی اصرار او ضد کوی په دے وجه د هدایت او توفیق او مغفرت نه محروم دی۔

وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ﴿۷﴾

او د زمکې او لیکن منافقان نه پوهیږي.

ک په دې ایت کښې د دوی دوه وصفونه ذکر کوي او په مینځ کښې رد کوي د دوی په قول باندې.

هُمُ الَّذِيْنَ بغیر د عطف نه ئې ذکر کړي دې ځکه دا علت د فسق د دوی دې یعنې بخیله هم بخل کوي او نورو ته په بخل سره امر کوي لکه په سورة نساء ۳۷ کښې دي او بخیله د نبي صلی الله علیه وسلم نه مخ اړوي او نورو ته هم په بوخیله سره شړي.

مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ دا قول د منافقانو دې ځکه چه دوی به ظاهراً هغه ته رسول وئیل یا دا تعبیر د الله تعالیٰ دې د دوی د ډیر تقبیح د پاره یعنې د رسول الله د خوا نه خلق شړل خوډیره لویه بداخلاقي ده.

حَتّٰى يَنْفَضُّوْا یعنې د لوږې د وجې نه به لاړ شي او خواره به شي او دا د دُنیا پرستو او د جاهلانو طریقه ده چه هر څیز صرف په ظاهري اسبابو پورې تړي او د الله تعالیٰ د ربوبیت او الوهیت نه غافل وي او دا رنګ د دې وستو جاهلانو هم دا عقیده ده چه دې اهل حق خلقو د خوراک او د خپلو دنیوي مفاداتو د پاره حق قبول کړې دې او س هم په مشرکانو او مبتدعینو او جاهلانو کښې دا عقیدې موجود دي.

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دا رد دې د دوی په قول او په دغه عقیده باطله باندې. مراد دا دې چه د روزئ او د هغې د اسبابو (چه بارانونه او اونې بوټي وغیره دي) ټول په اختیار د الله تعالیٰ کښې دي او هغه بې انتها خزانې دي چه نه کمیږي او الله تعالیٰ د هغې د خرچ کولو نه هم ویره نه کوي لکه سورة اسراء ۱۰۰ او سورة حجر ۲۱ کښې ذکر شوي دي.

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ فقاهت دا دې چه د ظاهري الفاظو او معانۍ نه باطني احکام او اسرار او حکمتونه معلومولې شي نو چه د رزق د پاره صرف ظاهري اسبابو ته ګوري او د مسبب حقیقي نه غافل وي نو په دا سې شخص کښې فقاهت نیشته.

يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى الْمَدِينَةِ

دوی وائی که چرے واپس شو مونږ مدینے ته

لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ

ضرور اوبه باسی عزتمن د هغے نه ذلیل لره او خاص الله تعالیٰ لره صفت د عزت دے

وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ

او رسول لره (صفت د عزت دے) او مؤمنانو لره (صفت د عزت دے) او لیکن منافقان

ع ۱ ۸ ۱۳ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ

نه پوهیږی . اے ایمان والو غافل دِ نکړی تاسو لره

ف په دے ایت کښ دوه اوصاف د منافقانو دی. تیر شوی ایت کښ معلومه شوه چه په مال سره بخل کوی نو په دے ایت کښ ذکر کوی چه مال سبب د عزت گنړی. يَقُولُونَ دلته ئے لفظ د هم نه دے ویلے اشاره ده چه تیر شوے قول دوی هر وخت کوؤ او دا قول ئے یو ځل کړے دے.

لَئِن رَّجَعْنَا دا واقعه د غزوه بنی مصطلق نه په واپسے کښ ده او هغے ته مریسیع هم ویلے کیږی. لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ اه د اعز نه مراد عبد الله بن اُبی منافق وؤ مالدار وؤ او مال ئے سبب د عزت گنړلو او د اذل نه دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد کړے وؤ او دا صریح کفر دے.

وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ اه دا تردید دے د عقیدے د دوی او عزت خو په اختیار د الله تعالیٰ کښ دے او عزت حاصلیږی په ایمان او تقویٰ سره او دا صفتونه د رسول او د مؤمنانو دی.

سوال:- په سورة نساء ۱۳۹ او فاطر ۱۰ کښ تخصیص د عزت په الله تعالیٰ پورے کړے شوے دے او په دے ایت کښ ورسره رسول او مؤمنان هم ذکر شو؟

جواب:- په هغه دواړه ایاتونو کښ مراد د اختیار د عزت دے او هغه خاص دے په الله تعالیٰ پورے او په دے ایت کښ مراد توصیف دے په عزت سره یعنی موصوف په عزت سره الله تعالیٰ (پاتے په بل مخ)

أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ

مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه او چا چه

يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ⑨

اوکړو دا کار نو دغه کسان دوی پوره تاوان والا دی۔

اورسول او مؤمنان دی منافقانو اوکافرانو لره په نیز دَ الله تعالیٰ هیڅ عزت نیشته دے. بیا دَ درے وارو سره حرف دَلام ئے جدا جدا ذکر کړیدے اشاره ده چه دَ دوی په عزت کښ دَ یو بل سره ډیر فرق دے۔

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ فقاهت خاص دے دَ علم نه نو دا ترقی ده په قباحت دَ دوی کښ یعنی فقاهت خوځه چه علم هم په دوی کښ نیشته او علم استعمالیږی په امور ظاهری او باطنی دواړو کښ او فقه صرف امور باطنه کښ استعمالیږی نو نظر کول خزانو دَ الله تعالیٰ ته دا فقاهت دے او عزت او ذلت خو ظاهری څیزونه دی نو په دے کښ علم استعمال کړیدے۔

سبق هرکله چه دَ منافقانو قباحتونه ذکر کړے شول نو اوس مؤمنانو لره تحذیر ورکوی دَ اوصافو دَ منافقانو نه۔ اوهرکله چه سبب دَ دغه قباحتونو اشتغال او فخرکول دی په مال او په اولاد سره نو خصوصًا دَ هغے دَ اشتغال نه نهی کوی۔

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ مراد دَ ذکر نه طاعت دے توحید، اتباع سنت، پابندی دَ مونځ او قراءة دَ قران ټول په دے کښ داخل دی۔

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ دا اشاره ده ترک دَ ذکر الله ته په سبب دَ مال او اولاد سره۔

اودَ دینه معلومه شوه چه قباحت دَ مالونو دَ دُنیا فی نفسها نیشته بلکه په دے سبب ئے قباحت دے چه دَ دین دَ الله تعالیٰ نه مانع اوګرځی۔

الْخٰسِرُوْنَ وجه دَ خسران دا ده چه دوی باقی لره تباه کړو په فانی څیز سره او عمر (رأس المال) ئے تباه شو۔

وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ مِّنْ قَبْلِ

او خرچ کوئ د هغه نه چه مونږ درکړے دی تاسو ته مخکښ

اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُوْلَ رَبِّ

د دے نه چه راشي یو تن ستاسو ته مرګ نو وائي به اے ربه زما

لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْٓ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ۙ فَاَصَّدَّقَ

ولے نه روستو کوے ته ما لوه تر یو نیټے نزدے پورے نو زه به صدقه اوکړم

وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ⑩ وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ

او شم به زهٔ د نیکانو نه . او هیچرے نه روستو کوی الله تعالیٰ

سلا دا ترغیب دے انفاق ته په وخت د قبولیت د هغے کښ (چه قبل الموت دے) او انفاق د ذکر الله یو خاص فرد دے په مقابل د منافقینو کښ چه هغوی د انفاق نه منع کوله. او مراد د انفقوا نه عام دے زکوٰة، صدقات واجبه، انفاق فی سبیل الله ټولو ته شامل دے.

مِنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ د مرګ د راتللو وخت نه دے معلوم نو مراد د دے نه تعجیل کول دی په انفاق کښ چه کله ئې وس بَرشي نو روستو والے دے نه کوي. فَيَقُوْلَ رَبِّ دا قول وی په وخت د ځنکدن کښ په طریقه د تمنا سره.

فَاَصَّدَّقَ دا منصوب دے په جواب د تمنا کښ اَنْ پټ دے او دا صیغه دلالت کوی په مبالغه د تصدق باندے.

وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ مراد د صالحین نه نور د اصلاح کارونه دی ماسیوا د تصدق نه. ایمان راوړل، اتباع د سنت کول توبه کول د ګناهونو نه او دا سے مضمون په سورة ابراهیم سلا او سورة مؤمنون سلا کښ هم تیر شوے دے. وَاَكُنْ په جزم سره دے نو دا عطف دے په محل د فَاَصَّدَّقَ باندے ځکه چه تقدیر د عبارت دا دے اِنْ اَخَّرْتَنِيْ اَصَّدَّقْ وَاَكُنْ. یا په توهم د شرط باندے یعنی اِنْ اَصَّدَّقْ فَاَكُنْ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ. او الوسی ویلی دی چه محل او متوهم یو څیز دے لیکن توهم اطلاق په قرآن کښ تعبیر قبیح دے.

نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا

هيڅ نفس كوم وخت چه راشي نيټه دَ هغه او الله تعالىٰ خبردار دے په هغه

تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۱﴾

عملونو چه تاسو كوئے .

سلا دا معطوف دے په مقدر باندے.دَ تير شوي ايت په اخر كښ لَوْلَآ اَخَّرْتَنِيْ وو يعني دغه تمنّا كوونكے نه روستو كوي اودلته تعميم كوي په نَفْسًا نكره ذكر كولو سره په مقام دَ نفي كښ. وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خبير عالم دے په باطن او ظاهر دواړو باندے نو مَا تَعْمَلُوْنَ شامل دے پټ او ښكاره عملونه او نيتونو دَ زړه ته هم . او مفسر الوسي ويلے دي چه عمر رضي الله عنه دَ نبي صلى الله عليه وسلم عمر دَ دريے شپيته كلونو دَ دے ايت نه استنباط كړيدے پداسے طريقه چه دا ايت انتهاءدَ دريے شپيتم سورة ده او په دے كښ نفسًا نبي صلى الله عليه وسلم ته هم شامل دے چه دَ هغه نيټه چه راغله نو هم روستو اے نشو كيدلے او وروستے تغابن ذكر شو او غبن امت ته په سبب دَ وفات دَ نبي صلى الله عليه وسلم سره اورسيدلو. ګويا الله تعالىٰ دَ دنيا كښ مونږ دَ نبي صلى الله عليه وسلم دَ زيارت نه محروم يو ليكن دَ هغه سره زيارت په قيامت كښ په حوض كوثر باندے او په جنت كښ نصيب كړے". اَللّٰهُمَّ اٰمين ثم اٰمين.

الحمد لله ختم شو تفسير دَ سورة المنافقون .

ع ۲ ۱۴

سُوْرَةُ التَّغَابُنِ ۶۴ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۸ | بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ | اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ

پاکی وائی الله تعالی لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښې دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښې دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة التغابن

ربط دَ دے سورت دَ مخکښې سورت سره په ډیر وجوهو سره دے اوله وجه داده چه په تیر شوی سورتونو کښې رد وؤ په یهودیانو او منافقینو باندے نو په دے سورت کښې رد دے په مشرکینو او منکرینو دَ بعث بعد الموت باندے.
دویمه وجه داده چه په مخکښې سورت کښې شهادت دَ منافقانو په رسالت باندے ذکر کړو چه دا دروغ دے نو په دے سورت کښې اشاره کوی چه دوی په شان دَ کافرانو دی چه انکار دَ رسول نه په سبب دَ بشریت سره کوی.
دریمه وجه داده چه په مخکښې سورت کښې انکار دَ رسول نه ذکر شو په طریقه دَ منافقت سره نو په دے سورت کښې ترغیب دے ایمان بالرسول ته.
څلورمه وجه داده چه په هغه سورت کښې اوفرمائیل لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَآ اَوْلَادُكُمْ اه نو په دے سورت کښې دَ هغې علت ذکر کوی چه اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ۔ او اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ۔
دعویٰ دَ دے سورت اثبات دے دَ څلورو مقاصدو عالیو (توحید، رسالت، قرآن، بعث بعد الموت) سره دَ تزهید فی الدنیا او ترغیب الی الانفاق ته او دَ دے وجے نه په دے کښې نهی او امر ذکر دی او اسماء حسنیٰ ئے څوارلس ذکر کړیدی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید۔
خلاصه دَ سورت داده - په یکښې اول دعوی دَ توحید ده په تسبیح سره او په هغې باندے څلور عقلی دلیلونه ذکر کړے دی بیا تخویف دنیوی او بیا سببونه دَ عذاب ذکر دی اول انکار دَ رسول نه او دویم انکار دَ بعث بعد الموت نه او دَ هغې اثبات کوی په حلف سره - بیا امر دے (رپاکے په بل مخ)

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

خاص هغه لره بادشاهي ده او خاص هغه لره ستائنه ده او هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ

څیز باندے قدرت لرونکے دے. خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا ئے کړے تاسو نو بعض ستاسو نه

كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

کافر دی او بعض ستاسو نه مؤمن دی او الله تعالیٰ ستاسو عملونو لره

بَصِيْرٌ ﴿٢﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ

لیدونکے دے. پیدا کړے دی اسمانونه او زمکه د حق ښکاره کولو د پاره

په ایمان سره په دے مقاصدو باندے سره د بشارت او تخویف نه بیا ترغیب دے په ایمان بالقدر د پاره د تخفیف د مصیبتونو او امر دے په طاعت د الله او د رسول. او ذکر د توحید دے بیا تحذیر دے د محبت د دنیا نه او ترغیب دے توحید او قرآن او انفاق ته سره د بشارت نه او د امر د انفاق سره پنځه اسماء حسنیٰ ذکر دی د پاره د ترغیب.

تفسیر ۱ په دیکښ توحید ذکر دے په طریقه د تسبیح سره او د هغے د پاره ئے دره صفات د الله تعالیٰ ذکر کړے دی.

اول لَهُ الْمُلْكُ پوره او ټوله بادشاهي د دُنیا او د آخرت خاص الله تعالیٰ لره ده نو دا دلیل دے چه په الله تعالیٰ کښ هیڅ صفت د نقصان نیشته.

دویم وَلَهُ الْحَمْدُ نسبت د ټولو نعمتونو لویو او وړو ښکاره او پټ خاص الله تعالیٰ ته دے هغه د هغے پیدا کوونکے او ورکوونکے دے او استحقاق د حمد کامل مستلزم دے پاکوالی لره د هر عیب نه.

او دریم وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ نو هیڅ عجز او مجبوری پکښ نیشته نو تسبیح د هغه حق دے.

۲ دا هم دلیل د دعوے د توحید دے او دیته دلیل نفسی عقلی وئیلے شی فَمِنْكُمْ كَافِرٌ الخ په دیکښ دوه قولونه دی اول دا چه ذکر دے نه مراد کفر او ایمان تقدیری دے یعنی الله تعالیٰ په تقدیر کښ څوک کافر مقرر کړی دے

وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَإِلَيْهِ

او شکلونه ئې درکړي دي تاسو ته نو خائسته کړي دي شکلونه ستاسو او خاص هغه ته

الْمَصِيرُ ③ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

ورګرځېدل دي. عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو کښ دي او زمکه کښ دي

وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ۗ وَاللّٰهُ

او عالم دے په هغه څه چه پټوئے تاسو او په هغه څه چه ښکاره کوئے تاسو او الله تعالیٰ

عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ④ أَلَمْ يَأْتِكُمْ

عالم دے په هغه خبرو چه په سینو دَ خلقو کښ دي. ایا نه دے راغلے تاسو ته

او څوک مؤمن. نو خالق او تقدیر کوونکے الله تعالیٰ دے او دَ کفر او ایمان کسب کوونکے بنده دے. دویم قول دا چه په دے کښ کفر او ایمان کسب کوونکے بنده دے. دریم قول دا چه په دے کښ کفر او ایمان کسبي مراد دے نو په دے کښ معنیٰ دَ زجر ده یعنی الله تعالیٰ تاسو پیدا کړي ئې نو پکار دا وه چه ټولو ایمان راوړے وے لیکن تاسو تقسیم شوئے دوه ډلو ته او هرکله چه سبب دَ زجر کفر دے دَ دے وجے نه کافر ئې مخکښ ذکر کړے دے۔

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ یعنی دَ کفر او دَ ایمان اعمال ستاسو نه چه صادر یږي (روستو دَ خَلق دَ الله تعالیٰ نه) نو الله تعالیٰ هغې لره وینی۔

۳ دا بل دلیل عقلی دے آفاقي او انفسي نه مرکب دے. بِالْحَقِّ په معنیٰ دَ حکمت سره یا په معنیٰ دَ یقین سره دے یا بآ په معنیٰ دَ لام سره ده یعنی دَ پاره دَ اظهار دَ حق او هغه توحید دَ الله تعالیٰ دے. فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ حُسن په اعتبار دَ باطن او دَ ظاهر دواړو سره دي او جمال صرف په اعتبار دَ ظاهر سره وي نو په انسان کښ اوصاف باطنیه معنویه او تناسب دَ اندامونو او سیدها قد و قامت دا سے دے چه په نور مخلوق کښ نیشته او دا سے په سورة مؤمن ۶۴ کښ هم تیر شویدی. وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ کښ اشاره ده چه په خپل حُسن دے هیڅوک غرور او نکړي بلکه آخرت دِ رایاد کړي۔

۴ دا بل دلیل دے روستو دَ صفاتو دَ تصرف نه صفت (پاتے په بل مخ)

نَبَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَبْلُ ز فَذَاقُوْا

خبر د هغه کسانو چه کفرئې کړے وو مخکښ ستاسو نه نو اوڅکله هغوی

وَبَالَ اَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۞۵

سزا د کار خپل او دوی لره عذاب درد ناک دے۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهٗ كَانَتْ تَّاْتِيْهِمْ رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ

دا په دے وجه چه یقیناً راتلل دوی ته رسولان د دوی په ښکاره احکاموسره

فَقَالُوْۤا اَبَشَرٌ يَّهْدُوْنَنَا ز فَكَفَرُوْا وَتَوَلَّوْا

نو دوی اُویل آیا یو بشر مونږ ته لار ښائي نو انکار اوکړو دوی او مخ ئې واړوؤ

وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ ۞۶

او ښکاره کړه الله تعالیٰ خپله بے پرواهي۔ او الله تعالیٰ بے حاجته ستائیلے شوے ذات دے۔

دَعلم ذکرکوی او دَعلم درے کلیات ئې ذکرکړل چه هر یو کلی په بے شماره جزئیاتو باندے مشتمل دے اول ما فی السموات اه دویم ما تسرون اه دریم ذات الصدور ـه دا تخویف دنیوی او اخروی دے نبأء لوئے خبر او غټے واقعے ته ویلے کیږی۔

وَبَالَ بوج او سختئ ته ویلے کیږی اَمْرِهِمْ مراد دَ دے نه کفر او تکذیب دَ دوی دے دائې مبهم ذکرکړو دَپاره دَ هیبت شان دَ هغے۔ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ دا تخویف اخروی دے۔

ـلا دا سبب دَ عذاب ذکرکوی چه انکار دے دَرسالت دَرسولانو نه په بهانه دَ بشریت سره۔ او دا مرض دَ ټولو منکرینو دے لکه په سورة اسراء ـ۹۴ کښ ذکر دے۔ يَهْدُوْنَنَا اَبَشَرٌ اسم جنس مفرد او جمع دواړه استعمالیږی دلته ئې هم ضمیر دَ جمع ورته راجع کړیدے۔ فَكَفَرُوْا دا تکذیب دَ رسول دَ بشریت دَ وجے نه کفر دے یا كَفَرُوْا معنیٰ دا چه انکار ئې اوکړو دَ توحید او رسالت نه وَتَوَلَّوْا اعراض ئې اوکړو دَ تدبر کولو نه په بینا تو کښ۔ وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ۔۔۔۔

سوال :- دا عطف دے په تَوَلَّوْا باندے یعنی تولّی دَ کافرانو او استغنا دَ الله تعالیٰ په یو وخت کښ ده او حال دا چه غِنا خو دَ الله تعالیٰ صفت قدیمه دے؟

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ط

گمان کوی کافران چه دوی به هیچرے دوباره پیدا نشی

قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ

ته اوایه هاں قسم دے په رب زما ضرور به دوباره پیدا کړے شئ بیا به ضرور خبر درکړیشی تاسو ته

بِمَا عَمِلْتُمْ ط وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ⑦

ډ هغه عملونو چه تاسو کړیدی او دا کار په الله تعالیٰ باندے آسان دے۔

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ط

نو ایمان راوړئ په الله تعالیٰ او په رسول ډ هغه باندے او په هغه رڼا باندے چه نازل کړیده مونږ

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑧ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ

او الله تعالیٰ ستاسو عملونو باندے خبردار دے۔ په هغه ورځ چه جمع به کړی تاسو

جواب:۔ دا په معنیٰ ډاظهار ډ استغناء دے په هلاکولو ډ دوی سره یا دا جمله حالیه ده یعنی حال دا چه الله تعالیٰ خو ډ مخکښے نه غنی ذات دے ډ هغه ډ مخلوق ایمان ته هیڅ حاجت نیشته۔

ے په دیکښ زجر دے په انکار ډ بعث بعد الموت سره او دا هم سبب ډ عذاب دے او داخل دے په فکفروا وتولوا کښ او دا خلورم آیت دے ډ قرآن کریم نه چه په هغے کښ الله تعالیٰ په خپل ربوبیت باندے قسم کوی ډ پاره ډ اثبات ډ بعث اول په سورة یونس ۵۳ دویم سورة مریم ۶۸ دریم سورة سبا ۳ او خلورم دا آیت شو۔ زعم اکثر استعمالیږی په باطل او دروغو کښ او هر کله چه ډ دے قاعل یقیناً دغه قول کړے وی لکه په دے آیت کښ نو دا استعمال صحیح دے اگرچه مزعوم باطل دے او هر کله چه ډ دے قاعل باندے یقین نه وی او بے دلیله نسبت کوی بل چا ته نو په هغه وخت دا کلمه استعمالول منع دی لکه چه حدیث ډ ابوداؤد کښ راغلے دی بئس مطية الرجل زعموا۔ او ډ شریح نه نقل شویدی چه ډ هر څیز کنیت وی او کنیت ډ دروغو زعموا لفظ دے۔

ے هر کله چه مخکښ آیا تو نو کښ توحید او رسالت ر پاتے په بل مخ)

لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ

په ورځ د جمع کولو کښې دغه ورځ د غبن ښکاره کيدلو ده او چا چه

يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ

ايمان راوړے په الله تعالىٰ باندے او عمل ئے نيک اوکړو لرے به کړی الله تعالىٰ د دهٔ نه

سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ مِنْ

بدئ د دهٔ او داخل به کړی دهٔ لره جنتونو ته چه بهيږی لاندے د

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ

هغې نه ولے هميشه به وی دوی په هغې کښې هميشه . دا

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۝٩ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

کاميابی لويه ده . او هغه کسان چه کفر ئے کړيدے او دروغژن گڼړی

او بعث بعد الموت د قرآن کريم په اخبار تو سره ثابت شو نو اوس په هغې باندے تفريع کوی په دعوت او ايجاب د ايمان سره په دے ټولو باندے.

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ يعنی ايمان راوړئے په الوهيت د الله تعالىٰ باندے وَرَسُوْلِهٖ مراد د دے نه جنس رسول دے نو ټولو رسولانو باندے عمومًا او خصوصًا د آخری رسول په رسالت باندے ايمان راوړل مراد دی. وَالنُّوْرِ الخ مراد د دے نه ټوله وحی او خصوصًا قرآن دے ځکه چه د دے په ذريعه د تيارو د گمراهئ د جهل نه خلاصے حاصليږی.

سوال:- چه رسوله ئے اوئيل نو نُوْرِ به ئے هم وئيلے وو؟

جواب:- که نُوْرِهٖ وئيلے وے نو د الله تعالىٰ صفت ترينه مراد وو لکه چه سورة نور کښې تير شوے دے او مقصود خو دلته په قرآن باندے ايمان راوړل دی.

۹ په دے کښې تذکره د ورځ د قيامت ده (او د دے وجے نه په مخکښې آيت کښې ئے ذکر او نکړو) او بيا بشارت اخرويه ذکر کوی. يَوْمَ منصوب دے په اُذکر پټ سره. لِيَوْمِ الْجَمْعِ دا نوم دے د نومونو د قيامت نه ځکه په هغې کښې به اولين او آخرين او تمام انسانان پيريان او آسمانونو او زمکو والا او انبياء

بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط

ایاتونه زمونږ	دغه کسان	اُور والا دی	همیشه به دی دوی په هغې کښې		

اوامتونه دَ هغوی او ظالمان اومظلومان او ټول اعمال جمع کیدیشی لکه چه دا سے صفت په سورة هود ۱۰۳ اوسورة الواقعه ۵۰ کښې ذکر د ے ۔

ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ماخوذ د ے دَ غَبن نه په لغت کښې نقصان دَ قیمت ته ویلے کیږی کله چه یو انسان یو څیز لږه په کم قیمت سره خرڅ کړی نو ویلے کیږی چه فلانی غبن اوکړو او دا رنګ چه څوک په امانت کښې خیانت اوکړی نو هغې ته هم غبن ویلے شی ۔

سوال :- دلته خو څه معامله نیشته چه په هغې باندے اطلاق دَ غبن اوکړے شی؟

اول جواب دا دے چه دا په طریقه دَ استعارے (مجاز) سره ده څکه چه جنت والو دُنیا خرڅه کړه او جنت ئې حاصل کړو دا خوږه معه ده او اور والو خپل مالونه او خپل عمر خرڅ کړو او په هغې ئې اور واخستو او دا غبن او لوئے نقصان دے نو روایاتو نو کښې د ے ته خسران هم ویلے کیږی نو دا معامله دَ اور والو ئې مشابه کړه یو دا سے میاد کسره چه په هغې کښې تاوان او غبن حاصل شی ۔

دویم جواب دا دے چه هر مکلف سره دَ هغه عمر او بدن او مال امانت دَ الله تعالیٰ د ے او دِ ے مامور د ے چه دا په دا سے طریقه خرچ کړی چه په هغې سره جنت حاصل شی او دَ اُور نه بالکل نجات اومومی لیکن اکثر مکلفینو په د ے امانت کښې غبن کړے د ے په دنیا کښې دِ ے په هغه غبن باندے پوهه نه لری لیکن په آخرت کښې به دَ دهٔ غبن ښکاره شی ۔

سوال :- التَّغَابُنِ باب تفاعل د ے نو په د ے معنیٰ سره دَ صدور دَ جانبینو نه څه رنګ جوړیږی؟

جواب :- چه دنیا کښې هر شخص خپل غبن دَ بل نه پټ ساتی "كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ" او په آخرت کښې به یو بل ته نقصانات خپل او پردی هم ښکاره شی ۔ نو یوم التغابن نوم دے دَ نوموړو دَ قیامت نه په اعتبار دَ بعض اشخاصو سره (چه هغوی ګنهګاران دی) لکه چه يَوْمُ الْحَسْرَةِ نوم هم په اعتبار دَ بعضو سره د ے

وَمَنْ يُّؤْمِنْ الخ دا دلیل د ے چه په ایمان او عمل صالح سره انسان دَ غبن نه بچ کیږی دَ د ے وجے نه د ے ته فوز عظیم اویلے شو ۔

ع ۲ ۱۵

وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿۱۰﴾ مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ

او بد دے ځائے دَ ورګرځیدلو. نه رسی هیڅ مصیبت

إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ يَهْدِ

مګر په حکم (تقدیر) دَ الله تعالیٰ سره او چاچه ایمان راوړو په (تقدیر) دَ الله تعالیٰ کلک کړی الله تعالیٰ

قَلْبَهُ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿۱۱﴾

زړه دَ هغه او الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوره علم لرونکے دے.

ف۱۰ په دے کښ ذکر دَ غبن والو دے او دَ هغې سبب ئې ذکر کړے دے او تخویف اخروی دے۔ (سوال) څه حکمت دے چه وَمَن يُؤْمِن اه ئې په فعل مضارع سره ذکر کړو او کفر وائې په صیغه دَ ماضی سره ذکر کړو؟ (جواب) وجه دا ده چه اول ئې یوم التغابن ذکر کړو نو دَ هغې نه دَ نجات دَپاره ایمان او عمل صالح دے نو اهل التغابن خو په اصل کښ کافران دی نو تقدیر دَ عبارت دا دے وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا اه وَمَن لَّمْ يُؤْمِن مِنْهُمْ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ۔

ف۱۱ دا متعلق دے دَ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ اه سره په طریقه دَ جوابِ سوال سره سوال دا دے چه په توحید او اتباع دَ قرآن او سنت کښ ډیر مصیبتونه راځی نو دَ هغې علاج څه دے؟ حاصل جواب دا دے چه هر مصیبت مقرر وی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه نو هر کله چه په چا باندے مصیبت راشی نو عقیده دِ اولری چه دا دَ الله تعالیٰ په تقدیر سره دے نو په دے سره به دَ هغه زړه مضبوط شی او په هدایت باندے به کلک شی۔ مَا أَصَابَ اه دا سے په سورة حدید ۲۲ او سورة توبه ۵۱ کښ تیر شویدی إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ مراد دے نه تقدیر او اراده دَ الله تعالیٰ ده۔ وَمَن يُؤْمِن بِاللَّهِ مراد دَ ایمان بالله نه ایمان دے په تقدیر دَ هغه باندے يَهْدِ قَلْبَهُ قرطبی دَ ابو عثمان الحیری نه نقل کړیدی چه دا ایمان صحیح شو نو الله تعالیٰ ورله دَ اتباع سنت توفیق ورکوی یا مراد دَ دے نه کلک والے دَ زړه دَ هغه دے په ایمان باندے په وخت دَ مصیبتونو کښ۔

او خطیب شربینی ویلی دی چه هر کله زړه په هدایت باندے پوخ شی نو زائل شی دَ هغه نه هر اعتقاد باطل، کفر او بدعت او صفاتِ خبیثه دَ هغه۔

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ ۚ فَاِنْ

او تابعداري كوئ د الله تعالیٰ او تابعداري كوئ د رسول نو كه چرے

تَوَلَّيْتُمْ فَاِنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ

مخ واړوؤ تاسو نو يقينًا زمونږ په رسول باندے رسول

الْمُبِيْنُ ﴿۱۲﴾ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

ښكاره دى - الله تعالیٰ نيشته حقدار د بندگئ سيوا د هغه نه او خاص په الله تعالیٰ باندے دے

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۳﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

ځان او سپارى مؤمنان - اے ايمان

اٰمَنُوْۤا اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ

والو يقينًا بعض د بيبيانو ستاسو او اولاد ستاسو نه

عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوْهُمْ ۚ وَاِنْ تَعْفُوْا

دشمنان ستاسو دى نو ځان او ساتئ د هغوى نه او كه چرے معاف كوئ تاسو (خطائي د هغوى)

سلا دا معطوف دے په معنیٰ د ماقبل باندے يعنی آسان كړئ په ځان باندے مصيبتونه د وجے د ايمان نه په تقدير باندے او اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول د هغه كوئ د مصائبو د وجے نه ئے مه پريګدئ. ابن كثير د امام زهرى نه نقل كړيدى چه د الله تعالیٰ د طرف نه رسالت دے او د نبى صلى الله عليه وسلم د طرف نه بلاغ دے او زمونږ د طرف نه تسليم دے.

سلا دا دعوىٰ د توحيد ده او دا د اطاعة الله والرسول اوله مسئله ده او دا رنگ د مصائبو د دفع كولو د پاره توكل په الله تعالیٰ باندے ضرورى دے. ابن كثير ويلے دى چه په اوله جمله كښ معنیٰ د طلب پرته ده يعنى اخلاص او كړئ الله تعالیٰ ته په هر قسم شرك پريښودلو سره.

وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

او مخ اړوئے (دَ ملامته کولونه) او بخنه ورته کوئے نو یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکے دے

رَّحِيْمٌ ⑭ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ؕ

رحم کوونکے دے۔ یقیناً مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دے

سلد دَ اطاعة الله والرّسول دَ یو مانع (چه مصیبتونه دی) علاج ئے ذکر کړو نو اوس نور موانع ذکر کوی چه ازواج او اولاد دی۔
اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ مِنْ دلیل دے چه دا دشمنی دَ بعضو دَ طرف نه وی۔
عَدُوًّا لَّكُمْ مراد دَ دے نه عداوت دینیه اخرویه دے یا په طریقه دَ تشبیه باندے دے یعنی پشان دَ دشمنانو وی او دشمنی دا ده چه منع کول کوی دَ هجرت دَ جهاد او دَ اتباع دَ سنت نه په غم او بیماؤ دے کښې او ترغیب ورکوی بد عاتو او رسمونو رواجونو ته۔
فَاحْذَرُوْهُمْ یعنی په باره دَ دین کښې دَ هغوی دَ وسوسے او دَ اطاعت کولو نه ځان اوساتے۔ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا دا تعلیم دَ حسنِ اخلاق دَ پاره دے دَ دفع دَ فساد دَ کورنئ دَ یعنی خپل دین هم مه خرابوئے په اطاعت کولو دَ هغوی او خپله دنیا هم مه فاسد وئے په هغوی باندے په غصه کیدلو او جنګ کولو سره۔ او هرکله چه په وخت دَ غصّه کیدلو کښې اول انسان سزا ورکول غواړی په وهلو سره نو دَ هغے دَ دفع دَ پاره ئے اوفرمائیل وان تعفوا، دویم که عملی سزا نه ورکوی نو بیا په خوله سره سب وشتم او ملامته کول کوی نو دَ هغے دفع په تَصْفَحُوْا سره ذکر شوه بیا که ملامته کول نه کوی لیکن دَ هغه ګناه نورو خلقو ته ښکاره کوی دَ دے دَ پاره چه دَ خلقو په نظر کښې ذلیل شی نو دَ هغے مدافعه ئے اوکړه په تغفروا سره۔ او مراد دَ دے جرم نه هغه دے چه قابل دَ عفوا وصفح وی یعنی دَ هغوی دَ ناکاره اخلاقو چه امور دنیویه سره تعلق لری او جرم دَ معاف کولو نه وی لکه چه مونځ نه کوی دَ شرک او کفر کارونه کوی زنا او بدکاری ورباندے ثابته شی نو بیا دَ هغے دَ سزا ورکولو انتظام شرعی ضروری دے۔

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۱۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

او الله تعالیٰ خاص د هغه سره ثواب لوئے دے . نو ویره کوئے د الله تعالیٰ نه

مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِيْعُوْا

څومره چه ستاسو وس رسیږی او غوږ کیږئ او خبره منئ

وَاَنْفِقُوْا خَيْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ؕ وَمَنْ يُّوْقَ

او خرچ کوئے نو غوره به وی ستاسو د پاره . او هغه څوک چه اوساتلے شو

شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۶﴾

د حرص د نفس خپل نه نو دغه کسان دوی کامیاب دی .

ـــ دا د اطاعة الله والرسول نه د بل مانع ذکر کوی چه هغه مالونه او اولاد دی .
په تیر شوی ایت کښ مِنْ ئے ذکر کړے وو ځکه چه عداوت دینیه د هر سے
شئ او اولاد نه نه وی او هر چه مالونه او اولاد فتنه کیدل دی دا خو ټول
اولاد مالونو ته شامل دے . او اموال ئے مخکښ ذکر کړو په اولاد باندے ځکه
چه د مالونو فتنه ډیره ده په نسبت د اولاد سره .
فِتْنَةٌ فتن په اصل کښ اړولو ته ویلے کیږی او په عرف کښ او په قران کښ
د دے مختلف معانی دی دلته مراد امتحان دے یعنی محبت د مال او اولاد
کله انسان لره منع کوی د طاعت د الله تعالیٰ او د رسول نه او کله دا سبب
اوګرځی د پاره د تقرب الی الله تعالیٰ .
وَاللّٰهُ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ یعنی هرکله چه د طاعت د الله تعالیٰ او د محبت د
مال او اولاد مقابله راشی نو طاعت د الله تعالیٰ مه پریګدئے ځکه چه لوئے
اجر به ضائع شی د پاره د لګ او فانی څیز او دا رنګ په سورة انفال ۲۸ کښ
ذکر شویدی او په هغه سورت کښ اول منع اوکړه د خیانت نه او هغه ډیر
لوئے جرم دے نو د خیانت نه د بچ کیدلو د پاره په تاکید سره او فرمائیل
وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اه او دلته ډیر تاکید ته ضرورت نه وو .
ـــ روستو د ذکر کولو د اسبابو د عداوت او د فتنے نه چه هغه اسباب د
ګمراهئ دی ذکر کوی امور د هدایت او د دین چه هغه رپاتے په بل مخ)

إِنْ تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضٰعِفْهُ

که چیرے قرض ورکړئ تاسو الله تعالیٰ ته قرض ښائسته (په اخلاص سره) زیات به ئې کړی

لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ⑰

تاسو لره او بخنه به کوی تاسو ته او الله تعالیٰ قبلوونکے د عملونو دے صبر ناک دے .

څلور او امر دی - اول امر په تقویٰ سره، په دے کښ قید لګولے دے د ما استطعتم او سورة آل عمران ۱۰۲ کښ حق تقاته ذکر کړے دے نو اکثر مفسرینو ویلی دی چه آیت د سورة آل عمران منسوخ دے په دے آیت سره ځکه چه حق تقاته نه مراد دا اخستلے شویدے چه هیڅ قسم معصیت به نه کوی او دا خود استطاعت نه بهر خبره ده لیکن تحقیق دا دے چه د حق تقاته معنیٰ دا ده چه تقویٰ کوئے موافق د حدود شرعیه سره او د ما استطعتم مقصد دا دے چه هر انسان دِ خپل پوره استطاعت صرف کوی په اقامت د حدودِ شرعیه د تقویٰ کښ نو بنا په دے معنیٰ سره د دواړو آیاتو تو منافات نیشته نو نسخ هم نیشته بلکه دا آیت د سورة آل عمران د آیت تفسیر دے او چا چه قول د نسخ کړے دے نو هغه په معنیٰ د تقیید سره دے او دا په تیز د متأخرینو نسخ نه دے.
دویم امر وَاسْمَعُوا، دریم امر وَأَطِيعُوا په علم حاصلولو ته اشاره ده او بل په هغے باندے عمل کولو ته. څلورم امر وَأَنْفِقُوا دا عبادتِ مالیه دے او مخکښ درے عبادات بدنیه (عقیده او اعمال) دی. خَيْرًا دا د څلورواړو امرو سره تعلق لری او دلته فعل محذوف دے یکن خیرا الا نفسکم.
وَمَنْ يُوقَ شُحَّ د تیر شوے اعمالو نه منع کوونکے شح د انسان دے د دے وجے نه د هغے نه د بچ کیدلو ترغیب ئې ذکر کړو.
۱۷ ۱۸ په دے کښ ترغیب دے انفاق فی سبیل الله ته روستو د امر د انفاق نه او انفاق ته ئې قرضِ حسنه نوم کیخودلے دے د پاره د ترغیب. یا مراد د قرض نه مطلق اعمال حسنه دی چه په هغے کښ محسن وی په توحید او اتباع سنت سره نو دا تعمیم بعد التخصیص دے او دا سے سورة بقره ۲۴۵ کښ هم تیر شویدے - وَيَغْفِرْ لَكُمْ هر عمل صالح باندے هم ثواب حاصلیږی او هم په هغے سره ګناه معاف کیږی.

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾ ع ۲ ۸ ۱۶

عالم دے پہ ھر پټ	او ښکاره باندے	زورآور	حکمتونو والا دے ۔

وَاللّٰهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ۔ شکر دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه ښکاره کول دَ نعمت دی په ذریعه دَ ډیرے جزا ورکولو سره او دا متعلق دے دَ يضاعف سره ۔ حَلِيمٌ تلوار نه کوی په سزا ورکولو کښ مجرمانو ته بلکه مهلت ورکوی دَ پاره دَ دے چه توبه اوباسی او بخشش ورته اوکړے شی نو دا متعلق دے دَ يَغْفِر سره ۔

عٰلِمُ الْغَيْبِ اه دا صفتونه دَ پاره دَ تحذیر دی دَ ګناهونو کولو نه چه دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ څیز پټ نیشته او زورآور پوخ تدبیر کوونکے دے نو انسان دے ګناه اوجرم کوی ۔

" اَللّٰهُمَّ نَسْأَلُكَ بِهٰذِهٖ الْاَسْمَاءِ الْحُسْنٰى اَنْ تَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَتُدْخِلَنَا الْجَنَّةَ وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ " ۔

الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة تغابن په فضل دَ اللّٰه تعالیٰ سره۔

سُوْرَةُ الطَّلَاقِ ۶۵ مَدَنِيَّةٌ ۹۹	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۲ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يَاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ

اے نبی هرکله چه طلاق ورکول غواړئ بیبیانو ته نو طلاق ورکړئ دوی ته

لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ

مخکښې د زمانے د عدت ته او پوره شمار دے مده د عدت او ویره کوئ د الله تعالیٰ نه چه ستاسو رب دے

لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ

مه اوباسئ دوی لره د کورونو د دوی نه او نه دې اوځی دوی پخپله

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الطلاق او د دے بل نوم سورة النساء القصریٰ دے.

ربط د دے سورت د ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښې د بعض ازواجو د عداوت ذکر اوکړے شو نو په دے سورت کښې د هغوی د مفارقت طریقه شرعی ذکر کوی په وخت د ضرورت کښې.

دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې امر وؤ په تقویٰ سره او په دے سورت کښې پنځه فائدے د تقویٰ ذکر کوی.

دریمه وجه دا ده چه د هغه سورت په ۸ کښې نزول د عذاب ذکر وؤ اجمالاً نو د دے سورت په ۸ ۹ کښې د هغې تفصیل او اسباب ذکر کړی دی.

دعوی د دے سورت امر دے په رعایت د حدود شرعیه سره عموماً او په معامله د طلاق او د عدت د زنانو کښې خصوصاً او دا معنیٰ د تقویٰ ده چه د هغې پنځه فوائد ئې ذکر کړے دی او حدود شرعیه په دیارلس اوامرو سره او په درے نواهی سره ذکر شوے دی او دعویٰ د توحید په ۱۲ کښې ده او دوه اسماء حسنیٰ د الله تعالیٰ ئې ذکر کړی دی.

خلاصه د سورت دا ده. چه په اول ایت کښې ذکر د طریقه شرعی د طلاق او د عدت او حکم د سُکنیٰ (اوسیدل د ښځې) په حالت د عدت کښې ذکر

إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ

مګر که چرې را تللې او کړي په بد ئې ښکاره سره او دا

حُدُودُ اللَّهِ ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ

پولې د الله تعالیٰ دي او چاچه تیرېدل اوکړل د پولو د الله تعالیٰ نه نو یقیناً

ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ لَا تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ

ظلم ئې اوکړو په ځان خپل باندې نه پوهیږې هیڅ نفس چه امید دے چه الله تعالیٰ به پیدا کړي

بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ① فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ

روستو د دې بله خه خبره . تو هر کله چه دوی نزدې شي نیږدې خپلې نه

کړې دے او دے ته ئې حدود ویلي دي او په ۲ کښې حکم د رجوع او د عدم رجوع ذکر دے او په ۳ کښې دوه فائدے د تقویٰ مذکور دي او په ۴ کښې بعض قسمونه د عدت او دریمه فائده د تقویٰ ذکر شویده او په ۵ کښې دا احکام ئې مسمیٰ کړیدي په امر الله سره او د تقویٰ دوه فائدے ئې ذکر کړیدي او په ۶ کښې حکم د سُکنیٰ او د انفاق او د رضاع د ولد ذکر شوید ے او په ۷ کښې ذکر دي چه انفاق به د زوج د طاقت مناسب وي . بیا تخویف دنیوي او اخروي په سبب د تعدّي عن حدود الله سره په درې آیاتونو کښې ذکر کوي او صداقت د قرآن او د رسول سره د بشارتِ اخرويه نه په دوه آیاتونو کښې او اختتام د سورت دے په ذکر د توحید سره او په هغې کښې خلاصه د اسماؤ او صفاتو د الوهیت ذکر کړیده په ضمن د دوه صفتونو کښې چه علم او قدرت دے.

تفسیر : يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ په دې آیت کښې اته جملې دي او په هره جمله کښې ډیر احکام او حکمتونه شرعیه دي او درې اوامر دي او دوه پکښې نهي دي.

په نداء د یا ایها النبی کښې اشاره ده چه احکام شرعیه به صادریږي د الله تعالیٰ د طرف نه د نبي صلی الله علیه وسلم په واسطه سره بغیر د هغه نه شرعي حکم نشي کیدلے . نو تقدیر د عبارت دا دے چه اے نبي (قل للمؤمنین) او ایه مؤمنانو نه . او قرطبي ویلي دي چه اصح دا ده چه دا شروع مبتدا مستقله ده خاص سبب نزول د دے د پاره په روایاتِ صحیحه سره راغلے په بل مخ)

فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ

نو حصار کړئ دوی لره په خه طریقه سره (رجوع کول) یا جدا کړئ دوی لره

ثابت نه دے۔ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ مراد دَ عدت نه زمانه دَ طهر ده په اتفاق سره او لام دَ پاره دَ توقیت دے په نیز دَ هغه علماؤ چه عدت په طهر سره وائي او څوک چه عدت په حیض سره وائي نو په دے کښ لفظ دَ استقبال یا مستقبلات پټ دے او دَ مسلم په یو قراءت کښ فی قبل عدتهن راغلے دے هغه دَ دے تقدیر دَ پاره دلیل دے۔ او ابن جریر وئیلي دي معنیٰ دا ده طلاق ورکړئ دوی لره په هغه طهر کښ (چه دوی ئې شماره کوي دَ عدت نه) په غیر دَ جماع نه په دغه طهر کښ" او دا معنیٰ دَ اول قول سره موافق ده او بیا په دویم قول معنیٰ دا ده "چه طلاق ورکړئ دوی لره په طهر کښ چه مخ له ئې راشي زمانه دَ عدت تیرولو چه هغه حیض دے" او ابن کثیر وئیلي دي چه دَ دے ایت نه فقهاؤ اقسام دَ طلاق راغستلي دي چه طلاق سنت دا دے چه طلاق ورکړي په دا سے حال کښ چه دَ حیض نه پاکه وي او جماع ئې ورسره نه وي کړے چه حامله وي او حمل ئې ښکاره وي او طلاق بدعت دا دے چه طلاق ورکړي په حالت حیض کښ یا په طهر کښ چه جماع ئې ورسره کړے وي او نه پوهیږي چه حامله ده او که نه ده۔ او دریم قسم طلاق دے نه سنت دے او نه بدعت دے هغه طلاق دَ وړے نابالغې یا دَ بوډئ دے او غیر مدخول بها دے او دا په فقه حنفي کښ احسن او حسن او بدعي دے دَ هغې تفصیل دَ فقهې په کتابونو کښ دے۔

وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ دَ عدت ورځے یا حیضونه او طهرونه پوره شمارل لازم دي او دا حکم دَ پاره دَ مدخول بها دے او دا شمارل دَ دے وجے نه ضروري دي چه په دے باندے احکام دَ رجوع او دَ دویم نکاح او نفقے وغیره تفریع کیږي۔ او خطاب په دے کښ خاوندانو ته دے۔

وَاتَّقُوا اللَّهَ دا تمهید دے دَ پاره دَ روستني احکامو او تاکید دے دَ پاره دَ تیر شوي لَا تُخْرِجُوهُنَّ اه دا دلیل دَ اوسیدلو دے دَ زنانه روستو دَ طلاق نه په وخت دَ عدت کښ په کور دَ خاوند کښ خاوند باندے دَ هغې ویستل حرام دي او ښځے لره هم پخپله وتل دَ سکني حرام دي۔

بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ

په ښه طریقې سره (رجوع نه کول) او ګواهان کړئ (په دواړه حالو کښې) دوه انصاف والا ستاسو نه

وَاَقِیْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ یُوْعَظُ بِهٖ

او پوره کړئ شهادت د پاره د الله تعالیٰ دا وعظ ورکیدلي شي په دے سره

مَنْ كَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ۬

هغه چا ته چه ایمان لري په الله تعالیٰ او په ورځ روستنۍ

وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۙ﴿۲﴾

او څوک چه ویره کوی د الله تعالیٰ نه جوړه به کړی دهٔ لره طریقه د نجات ،

بُیُوْتِهِنَّ کور دَ خاوند دے لیکن هغے ته اضافت کړے شویدے دَ وجے دَ اوسیدلو د هغے نه اِلَّآ اَنْ یَّاْتِیْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَیِّنَةٍ مراد دَ دے نه وتل دی بغیر دَ اجازت نه او وتل دی بغیر دَ ضرورت نه یا مراد تریته بد زبانی دَ ښځے ده دَ خاوند او دَ سخر کئے سره. یا مراد دَ دے نه زنا دے لیکن وتل دَ پاره دَ حد قائم کولو دی هسے شرط مراد نه دی۔ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ دا احکام ئے مسمّیٰ کړل په حدود سره اشاره ده چه پدیکښې دَ ځان دَ طرف نه زیاتے کول یا کمے کول منع دی۔۔

لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللّٰهَ یُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ضمیر دَ لَا تدری مؤنث غائب دے نفس ته راجع دے۔ او دا حکمت دے دَ پاره دَ طلاق رجعي او عدت تیرول په کور دَ خاوند کښې. بَعْدَ ذٰلِكَ دا اشاره ده یو طلاق یا دوه طلاقو ته اَمْرًا مراد دَ دے نه رغبت دَ خاوند دے دغه ښځے ته په رجوع کولو سره. او دا دلیل دے چه درے طلاق په یو ځل ورکول ظلم دے او دَ دے حکمت نه خلاف دے ځکه چه په هغے کښې رجوع کول حرام دی بغیر دَ تحلیل شرعي نه ئے په دے ایت کښې خلور اوامر ذکر کوی. بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ مراد دا دے چه عدت ئے قریب دے تیریدلو ته لیکن ختم شوے نه دے. فَاَمْسِكُوْهُنَّ اه مراد دا چه په عدت کښې دَ خاوند خوښه ده که رجوع ورته کوی او که نه کوی دَ ښځے رضا په دے کښې شرط نه ده بِمَعْرُوْفٍ دَ دے نه مراد اداکول دَ حقوقو دَ ښځے دی نفقه، جامے، اوسیدل او بیه ژوند تیرول ر پاتے په بل مخ)

وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ

او روزي به ورکوي دۀ ته دَ داسې ځائې نه چه دے به ګمان نه کوي او چا چه

يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ۚ اِنَّ اللّٰهَ

ځان اوسپارو په الله تعالیٰ باندے نو هغه (الله ته) پوره دے دۀ لره يقيناً الله تعالیٰ

بِمَعْرُوْفٍ دَ دے نه مراد زورنه او بدئ وينا او دَ کنځلو نه ځان ـ بچ کول دي او رجوع نه کول تر دے پورے چه عدت ئې تير شي ـ وَاَشْهِدُوْا ذَوَيْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ شهادت پيش کول په وخت دَ رجوع کولو يا په وخت دَ طلاق ورکولو کښ دَ اکثر اهلِ علمو په نيز باندے دا امر دَ وجوب دَ پاره نه دے ليکن بغير دَ اشهادنه رجوع کول او طلاق ورکول خلافِ سنت دي لکه چه ابو داؤد دَ عمران بن حصين رضی الله عنه نه روايت نقل کړيدے ـ او قاسمي وئيلے دي چه ظاهر دا ده چه دا امرهم دَ وجوب دَ پاره دے ځکه چه قول او امر دَ دے سورت دَ وجوب دَ پاره دي او دا يو قول دَ امام شافعيؒ دے ـ وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ دا امر دے ګواهانو ته په وخت دَ ضرورت دَ ګواهئ ادا کولو کښ چه ګواهئ ته حاضر شي او دروغ دِ يکښ نه وائي او اجرت دِ په هغې باندے نه اخلي ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ الخ دا دَ تاکيد دَ مخکښ احکامو دَ پاره دے يعني په دے او امرو باندے عمل کول دَ ايمان بالله تقاضا ده او په دے باندے دَ ثواب اميد ساتل يا دَ عذاب نه ويره کول دَ ايمان بالاخرة دليل دے ـ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا په دے کښ دَ تقوىٰ يوه فائده ذکر کړه او مراد دَ تقوی نه دَ شرک او کفر نه ځان ساتل او دَ ټولو ګناهونو کبيرو نه بچ کيدل او په صغيره اصرار نه کول او دَ ماموراتِ شرعيه امتثال کول دي ـ او په سنت طريقه طلاق ورکول او دَ بدعي طلاقو نه ځان ساتل په دے تقوىٰ کښ داخل دي لکه حديث دَ ابو داؤد کښ راغلے دی چه يو شخص خپلې ښځې ته درے طلاق ورکړے وو نو ابن عباسؓ ته راغے نو هغه ورته دا آيت اولوستلو او ورته ئې اوفرمائيل تا دَ الله تعالیٰ نه ويره نه ده کړے نو ستا دَ پاره مخرج نيشته ـ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا هر غم دَ دُنيا او اخرت نه نجات او دا رنګ دَ شبهاتو او دَ شکونو نه بچ کيدل مراد دي او دفع دَ ضرر خو مخکښ وی دَ حصول دَ منفعت نه دَ دے وجے نه دا فائده ئې وړاندے ذکر کړه لفظ دَ

بَالِغُ اَمْرِهٖ ط قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَیْءٍ

پوره کوونکے دے خپل کار لره یقیناً جوړ کړے دے الله تعالیٰ دَپاره دَ هر خیز

قَدْرًا ۝۳ وَالّٰٓئِیْ یَئِسْنَ مِنَ الْمَحِیْضِ

خاص انداز - او هغه زنانه چه ناامیده وی دَ حیض نه

مخرجا کښې اشاره ده چه تکلیفونه مصیبتونه به وربانده راځی لیکن دَ ...
نه راوتل او دَ هغې دَ ناکاره اثارونه به نجات مومی ځکه چه خروج مخکښې
دخول غواړی.او دَ سهل بن عبدالله نه نقل دے چه چا تابعداری دَ سنت
اوکړه الله تعالیٰ به ئے بچ کړی دَ عقوبت دَ بدعتیانو نه.

۳ په دے کښې دویمه فائده دَ تقویٰ ذکر کوی. او مراد دَ دے نه برکات اچول
دی په رزق دَ دهٔ کښې. او بغیر دَ ظاهری اسبابو نه روزی راتلل دی. معلومه
شوه چه دَروزئ اصل سبب تجارت او کسب نه دے بلکه تقویٰ ده تجارت او کسب
وغیره چه سرهٔ دَ تقویٰ نه وی نو روزی به سرهٔ دَ برکاتو نه ملاویږی او یا
مراد دَ دے نه روزی ده په جنت کښې او دا فائده دَ مخکښې نه جدا او
مستقله ده دَ دے وجے نه دَ هغې نه ئے جدا ذکر کړو.

وَمَنْ یَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ، هرکله چه توکل لره هم دخل وو په برکت دَ
رزق کښې دَ دے وجے نه دا ئے ورسره متصل ذکر کړو. توکل اعتماد دے په
الله تعالیٰ بانده او ټول کارونه هغه ته سپارل دی سرهٔ دَ استعمال دَ اسبابو نه
دلته ترتیب دا معلوم شو چه اول تقویٰ ده چه اوامر دَ الله تعالیٰ به ځائے راوړی
او دَ منهیاتو نه ځان ساتی او ورپسے توکل علی الله دے نو اشاره ده چه توکل
بغیر دَ تقویٰ نه راتلے نه شی او نه فائده ورکوی دا رنګ دَ دے سیاق سره
مناسبت دا دے چه احکام دَ طلاق او دَ عدت او دَ رجوع به شرعی طریقه سره
اداکوی او دَ دے دَ نتیجے اعتماد به الله تعالیٰ بانده اوکړی فَهُوَ حَسْبُهٗ هغه
به ورله توفیق دَ خیر ورکوی ضرر نه به ئے لرے کوی فائدے به ورکوی بل
چا ته به ئے نه محتاج کوی. اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمْرِهٖ دا جواب دَ سوال دے سوال
دا چه ډیر توکل کوونکی متقیان خلق دی او په هغوی بانده مصیبتونه مرضونه
وغیره راځی؟ حاصل جواب دا دے چه دا فیصلے دَ الله تعالیٰ دی رابې په بل مخ)

مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ

دَ زنانو ستاسو نه که چرے شک کوئے (په عدت دَ هغوی کښ) نو عدت دَ هغوی درے

اَشْهُرٍ ۙ وَّالّٰٓئِىْ لَمْ يَحِضْنَ ؕ وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ

میاشتے دے او هغه زنانه چه نه وی حائضه شوے همدغه او حمل والا زنانه

اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ

عدت دَ هغوی زیګول دَ حمل دَ دوی دی او چاچه ویره کوله

اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ يُسْرًا ۝۴ ذٰلِكَ

دَ اللّٰه تعالیٰ نه جوړه وی دهٔ لره دَ کار دَ دهٔ نه اسانتیا دا

چه په مخلوق کښ چلوی او هره فیصله خپلے انتها ته رسوی۔
قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْرًا مراد دَ دے نه تقدیر دے او علت دے دَ بالغ امرہٖ دَپاره یعنی دَ دے وجے نه پوره کوی چه دَ هغے تقدیر ئے کړے دے یا مراد دَ دے مقدار او انتهاء وه لکه چه دَ طلاق او عدت دَ پاره ئے تعداد او مدت مقرر کړے دے دا رنګ دَ هر مصیبت او مرض دَ پاره مقدار او مدت اللّٰه تعالیٰ مقرر کړے دے۔
سک په دے ایت کښ دَ درے قسمونو زنانو عدت ذکر کوی او په اخر دَ ایت کښ دَ تقوی یوه فائده ذکر کوی۔ یو قسم زنانه ائسه ده چه دَ حیض دَ راتللو نه ناامیده شی نو حامله کیدے هم نشی او دَ دے په مدت کښ اختلاف دے شپیته، اویا، پنځه پنځوس کلونه۔ صحیح دا ده چه دا په عادت دَ وطنونو او دَ زنانو بانده بِنا دے۔ دویم قسم صغیره نابالغه چه دَ هغے حیض تراوسه پورے نه وی شورو شوے لیکن دَ هغے نکاح کړے شوے وی او خاوند ورسره دخول کړے وی او بیا طلاقه کړے شی دَ دے دواړه قسمونو عدت درے میاشتے دے ځکه چه اصل په عدت کښ حیض دے او عادةً حیض په میاشت کښ یو ځل راځی او دَ دوی حیض نیشته نو دَ دے حیضونو په ځائے کښ درے میاشتے مقرر کړے شوے۔ دریم قسم حامله زنانه دی برابره خبره ده چه طلاقه کړے شوے وی یا خاوند ترینه وفات شوی

اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ

حکم دَ اللّٰه تعالیٰ دے نازل کړے دے تاسو ته او چاچه ویره اوکړه دَ اللّٰه تعالیٰ نه لرے کوی به

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ۝ اَسْكِنُوْهُنَّ

دَ ده نه بدئ دَ ده او لویه وی به دوی لره ثواب - او سوځئ دوی لره

دَ دے عدت وضع دَ حمل ده که لګ وخت روستو وی او که ډیر وخت پس وی. دلته هم په وجه دَ حمل سره حیض بند شوید ے نو په عدت کښ حمل دَ حیض په ځائے بانده قایم کړے شو - اِنِ ارْتَبْتُمْ ،، که تاسو څوک شک کوئے په حکم دَ عدت دَ دوی کښ "دا شرط ئے ځکه ذکر کړو چه مخاطبینو ته دَ عدت دَ حیض والو حکم دَ جاهلیت دَ وخت نه معلوم وؤ لیکن دَ غیرحائضے په باره کښ علم نه وؤ. یا معنیٰ دا ده چه دَ آئسه او صغیره وینه راځی خو ستاسو شک وی چه دا دَ ځه وینه ده لیکن هغه وینه دَ حیض نه ده نو عدت به په میاشتو سره وی نوکه شک هم نه وی ځکه چه وینه نه وی نو بیا خو په طریقه اولے سره دا حکم دے .یله معنیٰ دا ده چه آئسه او صغیره مستحاضه وی او ستاسو شک وی په باره دَ عدت کښ نو حکم دغه دے - دا معانی په هغه وخت کښ دی چه ارتبتم په معنیٰ دَ شک سره شی او بل احتمال دا دے چه دا په معنیٰ دَ یقین سره هم راځی دا دَ اضدادو نه دے - وَ الّٰٓئِیْ لَمْ یَحِضْنَ دا دلیل دے چه دَ نابالغ نکاح چه ولی اوکړی دَ چا سره نو دا شرعًا جائز دے لکه نکاح دَ عائشه رضی الله عنها نو څوک چه دَ دے نه انکار کوی او په باره دَ حدیث عائشه رضی الله عنها کښ په امام بخاری یا په امام زهری بانده طعنونه کوی نو دا خلق پخپله مطعون دی -

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ الخ دلته هم تقوی عامه ده او داخل دے په دے کښ طلاق ورکول په سنت طریقے سره دا رنګ دا تقوی دَ زنانو ته اشاره ده چه په عدت تیرولو کښ دَ حکم شرعی لحاظ کوی نو الله تعالیٰ په دے زنانه لره آسانتیا ورکوی. او یُسْرًا عام دے دَ مخرجًا نه دَ دُنیا او دَ آخرت آسانتیا ته شامل دے - نو دا لویه فائده ده په نسبت دَ مخکښ دواړه فائدو -

ﮥ دا تاکید دے دَ باره دَ امتثال دَ تیر شوے احکامو او دَ تقویٰ دوه فائدے نورے ذکر کوی - ذٰلِكَ اشاره ده ټولو احکامو ذکر کړے شوؤ ته دریائے په بل مخ)

مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا

په هغه ځائے کښې چه تاسو پکښې اوسیږئے د طاقت ستاسو نه او مه

تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ وَاِنْ كُنَّ

ضرد. ورکوئے دوی ته د پاره د دے چه تنګسیا راولے په دوی بانددے او که چرے دی

اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى

دا زنانه حمل والا نو خرچ کوئے په دوی بانددے تر دے پورے چه

يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ

او زیږوی حمل خپل نو که چرے پئی ورکوی دوی ستاسو (بچو) لره

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ

نو ورکوئے دوی ته مزدوری د دوی او جرګه کوئے په مینځ خپل (په باره د بچی کښې) کښې

یعنی طلاق، عدت، رجوع، شهادات۔ اَمْرُاللّٰہِ مراد د دے نه حکم او قانون د الله تعالیٰ د ے برابره خبره ده که په صیغه د امر سره وی او که د نهی سره وی۔ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا په صیغه د مضارع سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه څومره تقوی زیاتیږی نو دومره به اجر او ثواب عظیم ورکیدے شی۔

فائده:- هر کله چه د تقوی درے درجے دی لکه چه په سورة مائده ۹۳ کښې تیرے شویدی د دے وجے نه په دے سورت کښې هم درے کرته تقوی ذکر شوه اوله درجه کښې پوره عقیده د توحید ساتل او د هر قسم شرک نه ځان بچ کول هر کله چه صرف توحید ذکر وو نو د هغے فائده ئے صرف مخرج ذکر کړه او هر کله چه ورسره توکل ذکر کړو چه اشاره ده د هر قسم شرک نه ځان بچ کولو ته نو ورسره برکت او وسعت د رزق د دنیا او د جنت ذکر کړے شو۔ دویمه درجه د تقوی ده د احکامو د الله تعالیٰ پوره پابندی کول په امتثال د اوامرو سره او اجتناب د نواهی سره نو ورسره ئے یسر ذکر کړو چه په دے سره مشکلات اسانیږی۔ دریمه درجه استقامت او د شبهاتو نه ځان ساتل دی نو د هغے دوه فائدے ذکر کړے د سیئاتو معافی او د اجرو ثواب ډیروالے (والله اعلم)۔

بِمَعْرُوْفٍۚ وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهٗٓ

په ښه طریقې سره او که چیرې تاسو سختي کوئ دَ یو بل سره (یو مخ دَ بل ژړي ورکولو کښ) نو ژر به ورکړي دَ ده

اُخْرٰى ۝۶ لِيُنْفِقْ ذُوْ سَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ ؕ

بله زنانه. خرچ دې وکوي خاوند دَ فراخۍ دَ فراخۍ خپلې نه (دَ مال په لحاظ سره)

سے په دې ایت کښ شپږ جملې او شپږ احکام ذکر کړې دي. اول حکم اَسْكِنُوْهُنَّ وجوب دَ سکنیٰ دَ مطلقې که په طلاق رجعي سره وي او که بائن سره وي. په دې کښ سکنیٰ دَ مطلقې رجعي دَ پاره خاص وو او دلته عام دې. مِنْ حَيْثُ، مِنْ دَ تبعیض دې یعنې مکان دَ اوسیدلو یا مِنْ زائده دې یا مِنْ دَ ابتداء دَ پاره دې یعنې دَ هغه طریقې نه چه تاسو څه رنګ اوسیږئ.

مِنْ وُّجْدِكُمْ مراد تری نه قدرت مالیه دَ خاوند دې که په طریقه دَ ملکیت سره وي او که اجرة سره وي لوئې کور وي یا وړوکے خو موافق دَ طاقت دَ خاوند سره.

دویم حکم وَلَا تُضَآرُّوْهُنَّ اه اضرار عام دې په مسکن کښ یا بې ضرورته رجوع کول طلاقې شوې ته یا نفقه نه ورکول په نیز دَ امام ابوحنیفه رحمة الله او مقصد ئې دا وي چه دا سکنیٰ پریږدي یا خپل حق او نه غواړي.

دریم حکم وَاِنْ كُنَّ اُولَاتِ حَمْلٍ اه حاملې ته په عدت کښ نفقه ورکول. او په غیر دَ حاملې نه دَ نورو مطلقو په باره کښ اختلاف دې چه دَ هغوی نفقه واجب ده او که نه ده واجب.

څلورم حکم فَاِنْ اَرْضَعْنَ فَاٰتُوْهُنَّ دَ دې وجې نه راوړه چه اول خو دا چه دَ دې بچي پیو والا نه وي او که وي نو دا زنانه خوخپل بچي ته پئې ورکوي او اجرت نه غواړي او که غواړي نو خاوند باندې اجرت دَ رضاعت واجب دې.

پنځم حکم وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوْفٍ مخاطب په دې سره مور او پلار دَ بچي دي دوی په دَ هغه دَ رضاعت په باره کښ مشوره او اتفاق کوي دَ پاره دَ دې چه دَ دوی په اختلاف سره تربیت دَ بچي برباد نشي.

شپږم حکم وَاِنْ تَعَاسَرْتُمْ اه دا هم خطاب دې مور او پلار ته. بچي ته چه دَ اجرت دَ رضاعت په باره کښ اختلاف راشي او یو بل سره تنګسیا کوي یعنې مسامحه او اتفاق نه کوي نو پلار د بچي لره لازم دي چه بله مرضعه په اجرت سره اونیسي.

وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهٗ فَلْيُنْفِقْ مِمَّآ اٰتٰىهُ

او هغه څوک چه تنګه ده په هغه باندے روزی دَهغه نو خرچ دِ اوکړی دَهغه مال نه چه ورکړے دَے دهٔ ته

اللّٰهُ ؕ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا مَآ اٰتٰىهَا ؕ

الله تعالیٰ تکلیف نه ورکوی الله تعالیٰ هیڅ نفس ته مګر برابر دَهغه طاقت چه ورکړے دے دهٔ ته

سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا ﴿۷﴾ ع

زر ده چه پیدا به کړی الله تعالیٰ روستو دَ تنګسیا نه اسانتیا .

وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا

او ډیر کلو والو چه نافرمانی اوکړه دَ حکم دَ رب خپل نه

ف په دے ایت کښ څلور جملے دی دَ مسئلے دَ انفاق سره متعلق دی .
لِيُنْفِقْ ذُوْسَعَةٍ مِّنْ سَعَتِهٖ دا امر دَ انفاق عام دے انفاق دَ خاوند په ښځه باندے
او انفاق دَ پلار په اولاد باندے او انفاق په مرضعه باندے او دَ دے نه علاوه
انفاق فی سبیل الله او نور نفقاتو واجبو ته هم شامل دے دا رنګ خرچ کول
دَ انسان په خپل ځان باندے هم په دے کښ داخل دے په دے ټولو کښ چه
حال دَ انفاق کوونکی ته اعتبار دے نو معلومه شوه چه په باب دَ نکاح کښ هم دَ
ښځے حالت دَ مالدارئے غریبے ته اعتبار نیشته بلکه دَ خاوند حالت ته به نظر
کیدیشی حکمت په دے کښ په دریمه جمله کښ ذکر دے چه لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ اه
یعنی څوک چه په یو عمل باندے مکلف وی نو دَ هغه طاقت ته اعتبار دے .
اِلَّا مَآ اٰتٰىهَا هر کله چه په دے ایت کښ صرف دَ انفاق دَ مال مسئله ده دَ دے
وجے نه اٰتَاهَا ئے ذکر کړو او هر کله چه عام عبادات او تکالیف مراد وی نو هلته
الا وسعها (عام لفظ) ذکر کیږی .
سَيَجْعَلُ اللّٰهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُّسْرًا دا تسلی ده چه هر کله انسان په هر حالت کښ دَ
الله تعالیٰ دَ حکم تابعداری کوی په مالدارئے کښ او غریبے کښ نو الله تعالیٰ به
په هغه باندے اسانتیا په دنیا او اخرت کښ راولی لکه په سورة انشراح ۵
۶ کښ .

وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ

او د رسولانو د هغه نه نو حساب اوکړو مونږ د هغوی سره حساب سخت

وَّعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ

او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته عذاب ډیر بد ۔ نو او څکل هغوی سزا

اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾

د کارخپل او شو عاقبت د کار د هغوی تاوان ۔

ﺳﻪ ﺳﻭ روستو د بیان د احکامو او حدود شرعیه نه تخویف دنیوی او اخروی ذکرکوی د پاره د تحذیر د مخالفت کولو د دے حکمونو نه او تخویف په پنځه طریقو سره ذکر شوی دے ۔ مِنْ قَرْيَةٍ مراد ترینه اهل قریه دی په تقدیر د اضافت سره قریة د قری نه دے جمع ته ویلے شی نو قریه هغه ښار او کلے چه ډیر خلق پکښ جمع وی ۔

عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا لفظ د امر کښ اشاره ده سه ته او مراد د دے نه وحی د الله تعالیٰ ده وَرُسُلِهٖ یعنی د توحید او رسالت دواړو نه ئے نافرمانی او بغاوت کړے وو ۔

فَحَاسَبْنٰهَا اه د سخت حساب نه مراد دا دے چه هیڅ جرم ئے ورته معاف کړے نه دے د ټولو ګناهونو په سزا سره ئے رااونیول ۔

وَعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا دا په دنیا کښ وو اشاره ده هغه عذابونو ته چه په قوم نوح ع او عاد او ثمود واصحاب مدین او مؤتفکات وغیره باندے راالیږلے شوی وو ۔

فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا مراد د امر نه نافرمانی کول په کفر او شرک او انکار رسالت سره دی ۔

وَبَالَ سخت عاقبت ته ویلے شی او حرف فا اشاره ده چه روستو د عذاب نه دوی ته احساس اوشو چه دا زمونږ د اعمالو عاقبت دے ځکه چه لفظ د ذاقت هم په احساس باندے دلالت کوی ذوق د احساسات ظاهریو نه دے ۔

وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا لفظ د امر ئے مکرر ذکر کړو د پاره د مزید قباحت د هغے ۔ ظاهر د الفاظو نه دا ده چه دا ځلور واړه جملے د عذاب دنیوی سره متعلق دی ۔

اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

تیار کړی دی الله تعالیٰ دوی لره عذاب سخت (په آخرت کښې) نو ویره کوئ د الله تعالیٰ نه

يٰۤاُولِى الْاَلْبَابِ ۖۚ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۛ قَدْ اَنْزَلَ

اے صفا عقل والو ۔ هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے یقیناً نازل کړے دے

اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا ۙ ⑩ رَّسُوْلًا يَّتْلُوْا عَلَيْكُمْ

الله تعالیٰ تاسو ته یادداشت رسول چه لولی په تاسو باندے

اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

آیاتونه د الله تعالیٰ ښکاره کوونکی د حکمونو د دے د پاره چه اوباسی هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ

او عملونه ئې کړیدی په برابر د سنت سره د تیارو نه رڼا ته ۔

ملا په دے کښې تخویف اخروی ذکر کوی په اوله جمله کښې او ایمان بالآخرة او صداقت د قرآن هم په دے ایت کښې ذکر کوی ۔ فَاتَّقُوا اللّٰهَ روستو د ذکر د عذاب د تیر شوے خلقو نه تنبیه ده او امر په تقویٰ دے دِ دے امت ته ځکه چه تقویٰ دعوی د دے سورت ده او مراد د دے امر د تقوی نه ادامة (همیش والے) او استقامت دے په تقویٰ باندے په درے واړه مرتبو د تقویٰ کښې کوم چه مخکښې ذکر شویدی په دلیل د دے چه دا خطاب د دے ایمان والو ته ۔

يٰۤاُولِى الْاَلْبَابِ هغه خلق دی چه د هغوی عقلونه د مقابلے د وهم نه او د شکونو شبهاتو نه محفوظ دی د هغوی صفات په سورة آل عمران ملا۱۹۰ سورة زمر ملا۱۸ کښې ذکر دی ۔

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دا صفت دے یا عطفِ بیان دے یا بدل دے د اولی الالباب نه او په دے کښې اشاره ده چه ایمان او تقوی والا صحیح عقل والا خلق دی ۔

قَدْ اَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَيْكُمْ ذِكْرًا مراد د دے نه قرآن دے او په دے کښې تاکید دے چه اے مؤمنانو غفلت او نکړئ ځکه چه تاسو سره د تذکیر کتاب موجود دے.

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ

او څوڅوک چه ایمان راوړي په الله تعالیٰ او عمل یې کوي برابر د سنت سره داخل به کړي هغه لره

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

جنتونو ته چه بهیږي لاندې د هغې نه وَلې همیشه به وي

فِيْهَآ اَبَدًا ۭ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا ⑪

په هغې کښې همیشه یقیناً خائسته کړیده الله تعالیٰ دهٔ لره روزي (په جنت کښې).

رَّسُوْلًا په دې کښې صداقت دَ رسول ذکر کوي. پهٔ نصب (رَسُوْلًا) دَ رسولًا کښې
ډیر اقوال دي یو دا چه دا بدل دې (او کوفیان ورته ترجمه وائي) دَ ذکرًا نه نو
رسول ته یې ذکر مبالغةً اویل یعني صاحب دَ ذکر دې. دویم قول دا دې چه
په دې کښې اَرْسَلَ پټ مراد دې. دریم دا چه ذکرًا مصدر دې او رسولًا دَ
هغې مفعول دې یعني نازل کړی دې الله تعالیٰ ذکر دَ رسول په قرآن کښې.
څلورم دا چه فعل امر (اِتَّبِعُوا) پټ دې. يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ الخ صداقت دَ قرآن ته
اشاره ده او دا دلیل دې چه مراد دَ رسول نه محمد صلی الله علیه وسلم دې
مُبَيِّنٰتٍ. بینات اکثر په عقیدو کښې استعمالیږي او مبینات په احکامو او اعمالو
کښې لکه سورۃ نور ۳۴ ۴۶ کښې هلته هم احکام وو او په دې سورت کښې هم
احکام دي. لِيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الخ ضمیر دَ یخرج رسول ته راجع دې یا آیات
الله ته راجع دې په تاویل دَ قرآن یا دَ ذکر سره یا الله تعالیٰ ته راجع دې.
تائید دَ اول احتمال په سورۃ ابراهیم ۱ کښې دې او تائید دَ دویم په سورۃ
مائده ۱۶ کښې دې او تائید دَ دریم په سورۃ احزاب ۴۳ او سورۃ بقره ۲۵۷
کښې دې.
سوال:- ایمان او عمل صالح والا خو دَ ظلماتو نه وتلي دي نو بیا دَ هغوی دَ اخراج
څه معنیٰ ده؟
جواب اول:- مراد هغه کسان دي چه دَ هغوی ایمان په تقدیر دَ الله کښې مقرر دې
جواب دویم:- مؤمنان کتابیان مراد دي.
جواب دریم:- مؤمنان مراد دي او دَ اخراج نه مراد بچ کول دي دَ ظلماتو دَ
کمراهۍ نه. (رپاتې په بل مخ)

ع ۲
۱۸

ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبۡعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلۡأَرۡضِ

الله تعالی هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اوهٔ اسمانونه او دَ زمکو نه

مِثۡلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلۡأَمۡرُ بَيۡنَهُنَّ لِتَعۡلَمُوٓاْ

پشان دَ اسمانونو راکوځیږی حکم دَ الله تعالی په مینځ دَ دوی کښې دَ دے دَپاره چه یقین اوکړئ تاسو

أَنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ

چه یقیناً الله تعالی په هر خیز باندے قدرت والا دے او یقیناً الله تعالی

قَدۡ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عِلۡمَۢا ﴿١٢﴾

راګیر کړے دے هر خیز په علم خپل کښې۔

جواب ځلورم ۱۔ دا چه ظلمات نه مراد بعض شکونه او شبهات او وسوسے شیطانی او نفسانی دی نو الله تعالی مؤمنانو لره دَ قران او رسول په ذریعه دَ دے نه او باسی۔ وَمَنۡ يُؤۡمِنۢ الخ دا بشارت دے روستو دَ اخراج دَ ظلماتو نه قَدۡ أَحۡسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزۡقًا مراد احسان نه وسعت او دَ رزق نه مراد رزق دَ جنت دے یا دا بشارتِ دنیوی دے روستو دَ بشارتِ اخرویه نه او په دنیا کښې احسان دَ رزق په ۳ کښې ذکر شو۔

۱۲ په دے ایت کښې ښځه جملے دی او ټولے دلالت کوی په توحید باندے په ردَ شرک فی التصرف او فی العلم سره۔ او دا متعلق دے دَ تخویف سره چه الله تعالی قادر او عالم دے نو دَ هغه دَ عذاب نه په هیڅ طریقه بچ کیدلے نه شئ بغیر دَ ایمان نه۔ وَمِنَ ٱلۡأَرۡضِ مِثۡلَهُنَّ مماثلت په بعض صفاتو کښې وی نو دلته مماثلت په عدد کښې دے چه اوه دی او دا رنګ احادیث صحیحه کښې تصریح راغلے ده چه زمکے اوه دی لکه حدیث دَ بخاری چه چا په ظلم سره دَ بل چا دَ زمکے نه دَ یو لیشت په مقدار سره واخستله نو دَ قیامت په ورځ به دَ دهٔ غاړے ته دَ اوهٔ زمکو نه اچولے شی۔ او دا حدیث اشاره کوی چه دا زمکے دَ یو بل دَپاسه طبقه طبقه دی نو چا چه و ئیلی وؤ چه اوهٔ اقلیمونه مراد دی هغه قول بے دلیله دے۔ لیکن هغه حدیث چه امام بیهقی په کتاب الاسماء والصفات کښې ذکر کړیدے چه په هره زمکه کښې

آدم دے ستاسو دَ آدم پشان او نوح علیه السلام (الی آخره) دا حدیث صحیح نه دے بیهقی ویلے دی چه دا حدیث شاذ دے او دَ دے متابع هم نیشته۔ ابن کثیر او امام ذهبی هم دا سے ویلے دی او ابو حیان په بحر المحیط کښ ویلے دی چه دا بیشکه موضوعی روایت دے او دَ واقدی کذاب نه نقل دے او دَ دے په مقابله کښ دَ حاکم صاحب مستدرک تصحیح ته اعتبار نیشته او په نبراس کښ ویلے دی چه دَ امام نووی نه نقل ده چه دا حدیث ثابت نه دے۔

يَتَنَزَّلُ الْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ امر نه مراد وحی ده یا هغه امور چه الله تعالیٰ مقدر کړے دی بَيْنَهُنَّ بنا اول احتمال ضمیر راجع دے ټولو آسمانونو ته او دَ آسمانونو او زمکے مینځ ته چه په دے کښ وحی دَ الله تعالیٰ نازلیدله او په دویم احتمال ضمیر ټولو آسمانونو او زمکو ته راجع دے په ټولو کښ دَ الله تعالیٰ مقدرات او تدبیرات چلیږی۔

لِتَعْلَمُوْٓا دا متعلق دے دَ خَلَقَ سره یا متعلق دے دَ يَتَنَزَّلُ سره بنا په اول باندے مطلب دا دے چه خلق دَ دے عالم بره او ښکته دلیل دے دَ دوه صفتونو دَ الله تعالیٰ باندے چه قدرت ئے دے هر څیز باندے او علم لری دَ هر څیز۔ او بنا په دویم احتمال باندے مقصد دا دے چه دَ وحی منزل خلاصه علم دَ دوؤ مسئلو دے اوله مسئله عموم دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے او دویمه علم دَ الله تعالیٰ په هر څیز باندے۔ لِتَعْلَمُوْٓا په دے لفظ کښ اشاره ده چه علم دَ دے دوه صفتونو فرض دے په هر مکلّف باندے۔

سوال:- اسماء او صفات دَ الله خو ډیر دی نو دَ دے دوؤ تخصیص ئے ولے کړیدے؟
جواب:- دا دوه صفتونه خلاصه ده دَ ټولو صفتونو الهیو او دَ دے وجے نه عقلی دلیلونه دَ توحید په قرآن کریم کښ په دے دوه صفتونو باندے مشتمل دی لکه په سورة بقره ۲۸ ۲۹ او سورة انعام ۱ ۲ ۳ او سورة نحل ۳ ۱۹ او نورو ډیرو سورتونو کښ هم شته۔

الحمد لله تفسیر دَ سورة الطلاق ختم شو۔

سُوْرَةُ التَّحْرِيْم ۶۶ مَدَنِيَّة ۱۰۷	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۲	رُكُوْعَاتُهَا ۲

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ج

اے نبی ولے بندوے په ځان باندے هغه څیز چه حلال کړیدے الله تعالی تا لره

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة التحریم او نور نومونه ئے سورة النبی او سورة لم تحرم او سورة المتحرم دی
ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اول وجه دا
ده چه مخکښ امور متعلقه دَ طلاق ذکر کړل اوس په دے سورت کښ هغه اخلاق
ذکر کوی چه منع کوونکی دَ طلاق دی۔ دویمه وجه دا ده هر کله چه ذکر کړل
په مخکښ سورت کښ احکام دَ جدا ئی دَ ښځے او خاوند نو په دے سورت کښ ذکر
کوی هغه احکام چه په هغے سره جوړخ راځی دَ ښځے خاوند۔ دریمه وجه دا ده چه هر
کله مخکښ سورت کښ عظمتِ شان دَ رسول صلی الله علیه وسلم ذکر شو نو
په دے سورت کښ عتاب دے هغه چا ته چه دَ هغه دَ خفګان کار کوی۔
دعوی دَ سورت۔ ذکر دَ حقوق دَ زوجیت۔ او عدم افاده دَ ازواج دَ پاره دَ
نجات دَ عذاب نه۔ او تهه اسماءِ حسنٰی ذکر کوی دَ پاره دَ توحید۔
خلاصه دَ سورت دا ده۔ دوه خطابات دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دوه دَ
مؤمنانو په اول خطاب دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ مقصد حرج لرے کول
دی دَ هغه نه په باره دَ رضا کولو دَ بیبیانو کښ په هغے څیز کښ چه دَ هغوی
حق نه دے۔ بیا ترغیب دے بیبیانو ته په ساتلو دَ رازونو دَ نبی صلی الله علیه
وسلم کښ او دَ هغه دَ خلاف (تظاهر) نه منع کول دی او دا رنګ ترغیب دے
دوی ته په ښځه اخلاقِ حسنه سره دا ترسه پورے دی۔ بیا ذکر دَ حق دَ خاوند
دے په ښځه باندے۔ بیا اول خطاب دے مؤمنانو ته چه په هغے کښ ذکر کوی
حق دَ ښځے په خاوند باندے په هغه امورو چه دَ عذاب نه بچ کول کوی او بیا
دویم خطاب دَ مؤمنانو دے او په هغے کښ ترغیب دے توبے ته دَ پاره دَ

تَبْتَغِىْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ①

لټوے په دے سره خوشحالي دَ بيبيانو ستا او الله تعالیٰ بخښونکے رحم کوونکے دے۔

بچ کيدلو دَ اُور نه او بشارت اخروية دے۔ او بيا دويم خطاب دَ نبي صلى الله عليه وسلم دے په جهاد سره دَ پاره دَ دے چه معامله دَ بيبيانو سره مشغول نشي دَ دے اهم مقصد نه. بيا دَ دوه وهمونو جوابونه دي اول وهم دا دے چه هر کله دَ ښځې عقيده دَ خاوند دَ عقيدے نه مخالفه وي په سبب دَ شرک کولو دَ ښځې نو ايا صرف ښځه کيدل دَ موّحد سړي دے له فائده ورکوي؟ حاصل جواب دا دے چه نه ورکوي او مثال ئې ذکر کړو دَ ښځې دَ نوح عليه السّلام او دَ ښځې دَ لوط عليه السلام۔ دويم وهم دا دے چه هر کله ښځه موّحده وي او خاوند مشرک کافر وي نو دا نکاح دے ښځې ته ضرر او نقصان ورکوي؟ حاصل جواب دا دے چه هيڅ ضرر نه ورکوي ما سيوا دَ ابتلاء نه او مثال ئې ذکر کړے دے په امرءة فرعون سره او په دے مثال کښې سرهٔ دَ ذکر دَ حال دَ مريم نه تشجيع هم ده مؤمنانو ته په استقامت دَ دين دَ الله تعالیٰ سره۔

تفسير ۱ مفسر قرطبي او اکثرو مفسرينو دَ دے سبب نزول کښې ډير اقوال ليکلي دي ليکن هغه روايت چه په سند صحيح سره امام بخاري نقل کړيدے هغه دا دے چه نبي صلى الله عليه وسلم دَ بي بي زينب رضي الله عنها کور کښې دَ گبين شربت اوڅښلو نو بي بي عائشه رضي الله عنها او بي بي حفصه رضي الله عنها دَ بنتوب دَ غيرت دَ وجے نه اتفاق اوکړو چه نبي صلى الله عليه وسلم چه هر يو کره راشي نو ورته به اُوايو چه ستا نه دَ مغافير بوئې ځي ايا تا مغافير خوړلي دي (مغافير جمع دَ مغفور ده او دے ته عرفط هم ويلے شي دا دَ يو قسم بوټي گل دے چه دَ عربو (نحل) مچو به هغه خوړلو او دَ هغې نه به شهد پيدا کيدل نو په هغه شهد کښې به هغه بوټي بوئې ورتلو دَ دوي قول چه ستا نه دَ مغافير بوئې ځي دا خبره رښتيا وه او دويمه خبره خو په طور دَ تپوس سره ده چه ايا تا مغافير خوړلي دي دَ تپوس په جمله کښې صدق او کذب نه راځي (او نبي صلى الله عليه وسلم به دَ بد بوئې څيز د استعمال نه ځان۔ بچ ساتلو) نو هغه اوفرمائيل چه ما مغافير نه دي خوړلي ليکن دَ شهد شربت مې څښلے دے ائينده به ئې نه څښم او په (رپاتے په بل مخ)

قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ وَاللّٰهُ

يقينًا مقرر كړى دى الله تعالىٰ تاسو لره پرانستل دَ قسمونو ستاسو او الله تعالىٰ

مادِ حرام وی، او بل صحیح سند والا روایت هم شته لیکن صحیحینو نه دے راوړے دَ هغې اختصار دا دے چه رسول صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها ته ویلے وو چه ماریه رضی الله عنها مورِ دَ ابراهیم دِ په ما باندے حرامه وی او په دواړه روایتونه کښ دا هم شته چه نبی صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها ته او فرمائیل چه دا راز په نه ښکاره کوے او نورو خبرو کښ مقصد دَ نبی صلی الله علیه وسلم دا وو چه نورے بیبیانے رضا وی او زینب او ماریه هم خفه نشی نو الله تعالیٰ دَ دے سورت ابتدائی ایاتونه نازل کړل چه يَآيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ قرطبی ویلے دی چه دا عتاب دے یعنی دَ دوه دوستانو په مینځ کښ دَ زور نه خبرے) دا گناه صغیره یا کبیره نه دے او قاسمی ویلے دی چه دا خطاب په طریقه دَ شفقت سره دے چه ولے ځان په تکلیف کښ دَ بیبیانو دَ وجے نه اچوے او شربینی ویلے دی چه دا په طریقه دَ عتاب سره نه دے بلکه تنبیه ده چه دا کار ستا دَ شان سره مناسب نه دے۔

سوال:۔ کوم څیز چه الله تعالیٰ حرام کړے وی نو نبی صلی الله علیه وسلم خو هغه نشی حرام کولے لکه حدیث دَ بخاری (په باره دَ نکاح دَ علی رضی الله عنه دَ لور دَ ابوجهل سره) کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی چه زه خو حلال دَ الله تعالیٰ نشم حراموَلے نو دَ دے ایت څه مطلب دے؟

جواب:۔ دلته تحریم په معنیٰ لغوی سره دے چه منع ده او فایده اخستل دَ یو څیز نه نه ده مراد بیا دَ عقیده دَ تحریم دَ ما احل الله ځکه چه داسے عقیده لرل خو کفر دے او نبی دَ هر معصیت نه پاک وی داسے خطیب شربینی ذکر کړے دی۔

تَبْتَغِيْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ او دا خو امر مباح دے لیکن دَ دے وجے نه په ځان باندے مشقت خلاف عادت مه اچوه۔

مَوْلٰىكُمْ ۚ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝۲ وَاِذْ اَسَرَّ

مولا ستاسو دے او خاص هغه په هر څه پوهیږی حکمتونو والا دے - او کوم وخت چه پټه اوکړه

النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ حَدِيْثًا ۚ فَلَمَّا

نبی صلی الله علیه وسلم بعض د بیبیانو خپلو ته یوه خبره نو هر کله

نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ

چه دے خبر کړه په هغې سره بله او خبر ورکړو الله تعالی په هغې باندے نبی صلی الله علیه وسلم له نو ویخودله

بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا

یوه خبره او مخ ئې واړوؤ د بلې خبرے نه نو هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم خبر ورکړو هغې بی بی ته

بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا ۗ قَالَ نَبَّاَنِيَ

په هغې خبرے سره هغې اُویل چا تاله دا خبر درکړے دے هغه اُویل خبر راکړے دے ما ته

۲- قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ په دے کښ ترغیب دے د دغه قسم ماتولو ته په کفاره ادا کولو سره . فَرَضَ په معنیٰ د تقدیر سره دے او تقدیر د کفارے په سورة مائده ۸۹ کښ ذکر کړے شوے دے - تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ ، تحلّه د حَلّ نه ماخوذ دے په معنیٰ د پرانستلو د غوټے دے یعنی په قسم سره چه کومه غوټه راغله نو د هغې غوټے پرانستل په کفارے سره دی - اَيْمَانِكُمْ جمع د یمین ده قسم ته ویلے کیږی دا اشاره ده چه تحریم د ما احل الله په معنیٰ د قسم کښ دے که خوراک څښاک وغیره وی یا ښځه وی او دا قول امام بخاری د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے او په دے کښ قرطبی اتلس اقوال ذکر کړے دی لیکن غوره دا ده چه چا د خوراک ، څښاک ، لباس او ښځې وغیره په باره کښ اُویل چه دا په ما باندے حرام وی لیکن عقیده د حرمتِ شرعیه حقیقیه ئې نه وی نو دا قسم دے او په هغې کښ کفاره د قسم واجب ده - وَاللّٰهُ مَوْلٰىكُمْ لفظ د الله ئې دوباره ذکر کړو د پاره د زیاتے تسلّی د زړه - مَوْلٰىكُمْ مالک ، متولی ، اختیار مند د کارونو او دوست ستاسو دے -

الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ۞ إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ

اللہ تعالیٰ چه په هرڅه پوهه دٔ خبردار دے. که چرے توبه او باسئ الله تعالیٰ ته نو یقینًا

صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۚ وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ

جوړ دی ستاسو زړونه (دٔ پاره دٔ توبے) او که چرے تاسو دواړه جوړه شئ په مخالفت دٔ هغه کښ

ﺳﮯ دا هم متعلق دے دٔ مخکښ واقعے سره بَعْضِ أَزْوَاجِهٖ مراد دٔ دے نه حفصه رضی الله عنها ده په غوره قول باندے. حَدِيثًا مراد دٔ دے نه تحریم دٔ شهد دے او منع کول دٔ هغے دی دٔ ښکاره کولو دٔ دے راز نه او بل قول کښ تحریم دٔ ماریه رضی الله عنها مراد دے دا دلیل دے چه خاوند له جائز دی چه په بعض رازونو سره بعضے بیبیا نے خاص کړی. فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهٖ یعنی عائشه رضی الله عنها ئے په هغے سره خبر کړه گمان ئے داؤ چه په دے کښ په څه حرج نه وی ځکه چه عائشه رضی الله عنها ډیره محبوبه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او مفعول دٔ نَبَّأَتْ ئے ذکر نه کړو اشاره ده چه نفس دا خبر ورکول نامناسبه کار وؤ تخصیص دٔ یو شخص پکښ مقصد نه وؤ. وَأَظْهَرَهُ اللهُ عَلَيْهِ په دے کښ دلیل دے چه نبی صلی الله علیه وسلم خو په غیب باندے نه پوهیدلو بلکه په علم کښ دٔ الله تعالیٰ اخبار ته محتاج وؤ. عَرَّفَ بَعْضَهٗ تعریف په معنیٰ دٔ الزام او ملامتیا ورکولو دے یعنی نبی صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها ته اُوئیل چه تا ولے زما راز خور کړیدے او عائشه رضی الله عنها ته ډحال ویلے دے لیکن په ټولو خبرو باندے زور نه ورنکړه دٔ بعضو خبرو ئے ورته شکوه اوکړه دٔ دے وجے نه ئے او فرمائیل وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ یا مراد دٔ دے نه دا چه زور نه ئے ورکړه لیکن طلاق ئے ورنکړو او فراق ئے ورسره اونکړو. او په دے کښ خائسته اخلاقو ته اشاره ده هغه دا ده چه دوست یا بی بی نه څه غلطی او نقصان اوشی نو پوره په هره یو خبره باندے زور نه ورکول پکار نه دی بلکه صرف په بعض خبره باندے زور نه ډے اوکړی. او دا دلیل دے چه شیخ له یا دوست له جائز نه دی چه دٔ خاوند او دوست رازونه ډ خوره وی. قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هٰذَا دا دلیل دے چه دٔ صحابه کرامو او دٔ بیبیا نو دٔ نبی صلی الله علیه وسلم دا عقیده وه چه نبی صلی الله علیه وسلم حاضر او ناظر

فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَالِحُ

نو یقیناً الله تعالیٰ مولا د هغه دے او جبرئیل علیه السلام او نیکان

الْمُؤْمِنِينَ ۖ وَالْمَلَـٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ۝۴

مؤمنان او نور ټول ملائک روستو د دے نه د هغه دپاره کومکی دی۔

اوغیب زان نه دے۔ قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ اشاره ده چه نبی صلی الله علیه وسلم وحی د الله تعالیٰ محتاج وو۔ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ کښ اشاره ده چه د الله تعالیٰ د رضا نه خلاف پټه یا ښکاره هیڅ خبره کول جائز نه دی۔ علیم په اعتبار د ظاهری خبرو اوخبیر په اعتبار د باطنی خبرو سره دے۔

سـ په دے ایت کښ ترغیب دے توبه کولو ته۔ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا صغت د صوغ نه دے مائل کیدلو او جوړیدلو ته وئیلے کیږی که په ښه طریقه سره وی یا بدے طریقے سره وی او زیغ همیشه استعمالیږی په بده طریقه کښ نو مراد دا دے چه ستاسو زړونه توبے طرف ته مائل دی اود توبے دپاره جوړ شویدی نو جزا په اصل کښ محذوف ده یعنی که چرے تاسو توبه کوئے نو ستاسو توبه مقبوله ده او بل قول دا دے چه معنیٰ دا ده چه ستاسو زړونه اوړیدلی او کاږه شویدی د واجب طریقے نه په اطاعت د رسول کښ او دلته هم جزا په اصل کښ محذوف ده یعنی که تاسو توبه کوئے نو موجود دے سبب د توبے کولو ستاسو۔ لیکن په اوله توجیه کښ ترغیب توبے ته ډیر دے او دا رنګ په دے کښ صفت د عائشه اوحفصه رضی الله تعالیٰ عنهما دے اوهغه امهات المؤمنین دی چه د هغوی اکرام په مونږ باندے واجب دے۔ قُلُوبُكُمَا قانون د عربیت دا دے چه تثنیه بلے تثنیے ته مضاف کولو کښ ثقل ګڼړی نو د اول تثنیه نه جمع جوړه کړی نو دا افصح کلام دے اوافراد هم جائز دے سره د فصاحت نه او تثنیه راوړل صرف جواز لری ۔اوخطاب په ضمیر د کما کښ عائشه اوحفصه رضی الله عنهما ته دے لکه چه حدیث د ابن عباس رضی الله عنه کښ امام بخاری نقل کړے دے ۔ وَإِن تَظَاهَرَا عَلَيْهِ تظاهر د یو بل ملا تړینګول او مدد کول دی او علیٰ د طرف د ضرر دے یعنی "که چرے تاسو د یو بل سره دله کوئے دپاره د ایذا ورکولو رسول صلی الله علیه وسلم ته" ربلکے په بل مخ)

عَسٰى رَبُّهٗۤ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗۤ اَزْوَاجًا

امید دے چه رب دَ نبی صلی الله علیه وسلم که چرے (دا نبی) طلاق ورکړی دَ بیبیانو ته نو بدله کښ به ورکړی نورې بیبیانے

خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ

چه غوره به وی ستاسو نه مسلمانانے ښکاره ایمان لرونکی په زړونو تابعداری کوونکی دَ حکم

تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝۵

توبے کوونکی بندګی کوونکی (په توحید سره) روژے نیوونکی کونډے او جینکے

هر کله چه تظاهر په ابتداء کښ مقصد دَ بیبیانو ته وو دَ دے وجے نه دائے روستو ذکر کړو صرف په طریقه دَ احتمال سره۔ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ جزاء په اصل کښ پټه ده یعنی ضرر نه شی ورکولے تظاهر ستاسو ځکه چه الله تعالی مددګار دَ دهٔ دے۔ وَجِبْرِيْلُ دا غوره دا ده چه دا مبتدا ده او ما بعد په دے باندے عطف دے او ظهیر ئے خبر دے او هغه جنس په معنی دَ جمع سره دے او مفرد ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه دَ دوی په مینځ کښ پوره اتحاد او اتفاق دے ګویا که یو دی۔ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ صالح اسم جنس دے ټول مؤمنان سابقین او روستنی ټول پکښ داخل دی چه هغوی اکرام دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کوی او په هغه باندے درود وائی او دَ هغه دَ سنت تابعداری کوی۔ جبرئیل ئے اول ذکر کړو ځکه چه هغه هر وخت دے نبی ته وحی راوړله په اذن دَ الله تعالی سره او ورپسے مؤمنین ذکر کړل چه هغوی دغه وحی لولی او اتباع دَ رسول سره مکلف دی او نور ملائک ئے روستو ذکر کړل ځکه چه دَ هغوی دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره دَ جبرئیل او دَ صالح المؤمنین نه تعلق کم دے۔ بَعْدَ ذٰلِكَ دا اشاره ده تظاهر ته یا اشاره ده ولایت دَ الله تعالی ته بنا په اول باندے علتیت ته اشاره ده او بنا په دویم باندے اشاره ده چه مدد دَ الله تعالی دَ هر چا مدد نه مخکښ دے۔ ۵ په دے کښ تنبیه او تحذیر دے بیبیانو دَ نبی صلی الله علیه وسلم ته په تعلیق او تبدیل سره کله چه دوی توبه اونکړی او تظاهر کوی۔ لیکن دوی توبه کړیده او تظاهر ئے پریخودلو نو نبی صلی الله علیه وسلم دوی لره طلاق نه دے ورکړے او روایت دَ طلاق دَ حفصه رضی الله عنها ثابت نه دے۔ عَسٰى رَبُّهٗۤ عسی دَ طرف دَ الله تعالی نه دَ وجوب دَ پاره دی لیکن په هغه وخت چه څه تعلیق نه وی

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ

اے ایمان والو بچ کوئے ځانونه خپل او بال بچ خپل

او دلته ئې خو په شرط پورے معلق کړے دے، شرط دا دے إِنْ طَلَّقَكُنَّ لیکن نبي صلی الله علیه وسلم طلاق نه دی ورکړی. أَنْ يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا په زنانه بانديے تطلیق لوئے مصیبت وی او د دوستو دَ طلاق نه بله ښځه په بدل کښ نکاح کول خو ډیر زیات مصیبت او غم وی دَ دے وجے دا دواړه کاروته (تطلیق او ابدال) یئے ذکر کړل. خَيْرًا مِّنكُنَّ (سوال) دا دلالت کوی چه دَ نبي صلی الله علیه وسلم دَ ازواجو نه نورے زنانه هم غوره شته؟

جواب:۔ دا دلالت نیشته ځکه چه ابدال دَ غوره ښځے په طریقه دَ فرض (تقدیر) سره ده نه په طریقه دَ وقوع سره یعنی که بالفرض ازواج دَ نبي صلی الله علیه وسلم تظاهر کوی او عصیان کوی نو ضرور راتلونکی صفتونو والا زنانه به دَ دوی نه غوره وی لیکن توبے یئے اُویستلے او تظاهر دَ نبي صلی الله علیه وسلم ئې پریخودلو او راتلونکی صفتونه پکښ ټول موجود وؤ نو معلومه شوه چه دَ هغوی نه نورے زنانه غوره نیشته او بل دلیل دا دے چه که دَ ازواج مطهرات دَ نبي صلی الله علیه وسلم نه نورے زنانه غوره وے نو بیا لازمیږی چه الله تعالی نبي خپل لره ترمرګه پورے دَ ناقصو (چه غوره نه وی) زنانو سره اوساتلو او اولے او اعلے صفت نه ئې محروم کړو او دا خو باطله خبره ده نو یقیناً معلومه شوه چه ازواج دَ نبي صلی الله علیه وسلم دَ ټولو زنانو نه غوره دی او تفاضل دَ آسیه رضی الله عنها ښځه دَ فرعون او دَ مریم رض لور دَ عمران او دَ خدیجه رضی الله عنها او عائشه رضی الله عنها او دَ فاطمه رضی الله عنها په تفصیل سره په کتابونو دَ عقیدے کښ ذکر دے په هغے کښ اوګورے. مُسْلِمَاتٍ اته شپږ صفتونه دَ کمال دَ عبدیت دی په انسان کښ که نارینه وی او که زنانه وی او دَ دے صفت دَ عبدیت سره تعلق نه لری اشاره ده چه هغه صفت ځان له سبب دَ کمال او دَ افضلیت نه دے ځکه چه بعض ثیبه زنانه دَ نیک عمل او عقیدے په سبب دَ جا هلے بکرے (ځوانے) نه ښه وی. مُسْلِمَاتٍ اسلام چه دَ ایمان نه وړاندے ذکر شی په دے کښ اخلاص دَ پوره انقیاد سره مراد وی او اخلاص دَ تصدیق دَ پاره شرط دے دَ دے وجے نه وصف دَ اسلام ئې (ریاتے په سیل مخ)

نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ

دَ اور نه چه خشاک دَ هغې خلق دی او کاڼي دی په هغې اور باندې مقرر دی ملائک

غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ

سخت (طبیعت والا) طاقتور. نافرماني نه کوی دَ الله تعالیٰ نه دَ هغې چه امر ئې کړے وی دوی ته

وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ ⑥ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او کوی دوی هغه څه چه دوی ته حکم ورکیدے شی - (او به ویلے شی) اے کفر

په ایمان باندے مقدم ذکر کړو. قَانِتَاتٍ مراد دَ دے نه طاعة دَ الله تعالیٰ او د رسول دَ هغه دے په پوره اطاعت سره نو ټول اعمالِ صالحه کول او دَ منهیاتو نه بچ کیدل په دے کښ داخل دی تَآئِبَاتٍ مخکښی صفات ثبوتیه دی او دا صفت سلبیه دے یعنی ګناهونه نه کول او که چرے ګناه اوشی نو دَ هغې نه توبه کول او اشاره ده چه دَ خاوند په باره کښ څه نامناسب خبرے کړے وی نو دَ هغې نه توبه کوی. عَابِدَاتٍ په دے وصف کښ اشاره ده چه مخکښی صفتونه دَ خپل طبیعت په وجه سره یا دَ ریا په وجه یا دَ نفاق په طریقه سره نه کوی بلکه دَ الله تعالیٰ دَ عبدیت په سبب سره ئې کوی.

سَآئِحَاتٍ سیاحت په اصل کښ ګرځیدل په زمکه کښ دی او مفسرینو دَ دے درے معانی ذکر کړے دی روژے نیوونکے، هجرت کوونکے، ګرځیدونکے دَ طاعت دَ پاره او قاسمی وئیلے دی چه هغه آیاتونه چه په هغې کښ دَ سیر فی الارض ذکر راغلے دے لکه سورة حج ۴۶ او سورة غافر ۲۱ او سورة روم ۹ دغه صفت لکه چه نارینو دَ پاره ضروری دے نو زنانو دَ پاره هم ضروری دے. ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا اشاره ده چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم ازواج هم دواړه قسمونه وے بعض پیغلے او اکثر ثیبے وے.

۶ هر کله چه مخکښ حاصل دا وو چه په ښځه باندے دَ خاوند حق واجب دے دَ هغه راز ونه به نه خوروی دَ هغه مقابله کښ به تظاهر نه کوی بلکه ځان کښ به دَ صالحو زنانو صفتونه پیدا کوی نو اوس دَ ښځو حق په خاوند باندے ذکر کوی. قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ نَارًا معطوف او معطوف علیه دواړه په وقایت کښ شریک دی لیکن په طریقه دَ وقایت کښ فرق دے هغه دا چه ځان به بچ کوی دَ اور نه په اتباع دَ قرآن او سنت سره او په طاعاتو کولو او پرېښودلو

كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ

دالو	بهانے مه کوئ	نن	ورځ	-	یقیناً	بدله درکیدیشي تاسو ته

دَ معاصي سره او اهل یه بچ کوي په امر بالمعروف او نهي عن المنکر سره او پېه
ادابو خودلو سره په عامو حالاتو کښ او موځ خودلو او امر کولو سره مخکښ دَ بلوغ
نه. وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ (سوال) چه په انسانانو سره بلیږي او دوی ئې خشاک
دے نو هر کله چه دوی ورته نه دی داخل شوي نو خشاک څه څیز وو ځکه چه اور
خو دَ مخکښ نه بل دے، او دا رنګ هر کله چه دوی خشاک دے نو مقصد دَ بلولو
څه دے ؟ (جواب) په څو وجوهو سره دے اول دا چه کلام په طریقه دَ تشبیه بلیغ
سره دے یعني الناس والحجارة مثل الوقود دوی به دَ خشاک په شان سوځیږي
دویمه وجه دا ده چه مخکښ دَ دخول دَ انسانانو نه دوی ئې خشاک دے او عبارت
کښ تقدیم تاخیر دے. دریمه توجیه دا ده چه سبب دَ بلیدلو دَ اور عابدانو او
معبودان باطله دي چه اکثر دَ ګټو نه جوړ کړے شویدي. النَّاسُ مراد دَ دوی نه
کافران مشرکان دي په دلیل دَ ایت دَ سورة العمران ۱۰ او سورة بقره ۲۴ سره.
او مؤمنان ګنهګاران چه الله تعالیٰ هغوی ته معافي او نکړي هغوی به هم اور ته
داخلیږي لیکن دَ خشاک پشان به پکښ نول نه سوځیږي اندامونه دَ سجدے به
بچ وي لکه چه حدیث صحیح کښ راغلي دي. وَالْحِجَارَةُ دا لفظ عام دے جنس
ګټے ته چه دَ هغې اور ډیر ګرم وي او ګټے دَ ګوګړو (کبریت) چه دَ هغې اور تیزاو
بدبوئیه وي او هغه ګټے چه دَ هغې عبادت کړے شوے دے بتان ئې دَ هغې
نه جوړ کړے دي یا ئې په قبرونو باندے لګولے دي او مشرکانو هغې لره
سبب دَ نفع او ضرر ګنړلے وي.
سوال:. په سورة بقره ۲۴ کښ النار ئې معرفه په الف لام سره او صفت دَ هغې
ئې معرفه په التي سره ذکر کړیدے او په دے سورت کښ نکره ده وجه دَ
فرق څه ده ؟
جواب :- الف لام دلالت کوي په کمال او مبالغه باندے او نکره دلالت کوي په قلت
او تخفیف باندے نو سورة بقره کښ خطاب دے مؤمنانو ته چه هغه مبالغه او
سختي نه غواړي. عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ عدد دَ هغه ملائکو په سورة مدثر ۳۰ کښ
ذکر کړے دے. او نوم دَ هغوی زبانیه په سورة علق ۱۸ کښ راپاتے په بل مخ)

ع ۱ ۱۹

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۷﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دَ هغه عملونو چه تاسو کوئ . . اے ایمان والو

تُوْبُوْۤا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ؕ عَسٰى رَبُّكُمْ

توبے اوباسئ الله تعالىٰ ته توبے اخلاص والا امید دے چه رب ستاسو به

کښ ذکر دے غِلَاظٌ زړونه ئې سخت دی په جهنم والو باندے نه ترسیږی اګرچه هغوی ترینه دُعا غواړی خوراک او خښناک غواړی . شِدَادٌ مضبوط بدنونو او اندامونو والا دی او یو روایت قرطبی ذکر کړے دے چه دَ دے ملائکو دَ دواړو اوګوتو مینځ دومره فاصله به وی لکه دَ مشرق نه ترمغربه پورے . لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ فرق دَ دواړو جملو دا دے چه مراد دَ اول نه دا دے چه انکار دَ اوامرو دَ الله تعالىٰ نه نه کوی او مراد دَ دویم دا دے چه عمل کوی په ماموراتو باندے . دویم فرق دا چه اوله جمله په باره دَ زمانه ماضی کښ ده او دویمه په باره دَ زمانه مستقبله کښ ده . دریم فرق دا دے چه دَ اولے جملے معنیٰ دا وه چه خلاف نه کوی دَ الله تعالىٰ نه دَ هغه کارونو چه امر ئې په باره دَ اجتناب دَ هغے کښ کړے دے چه منهیات دی او عمل کوی په ماموراتو باندے نو په اوله جمله کښ اجتناب دَ منهیاتو نه مراد دے او په دویمه کښ امتثال دَ اوامرو مقصد دے . او دا ټول صفتونه دلالت کوی چه دَ دغه ملائکو نه په هیڅ طریقے سره . بچ کیدل نشی کیدلے نه په رحم درخواست سره او نه په مقابلے کولو دَ هغوی سره او نه په رشوت اخستلو او مخالفت دَ حکم دَ الله تعالىٰ سره او نه په رعایت سره په کموالی دَ عذاب کښ .

ک دا ایت هم دَ تخویف اخروی سره تعلق لری او دفع دَ وهم ده که څوک او ائی چه دَ ملائکو نه خو نشی بچ کیدلے لیکن کیدے شی چه الله تعالىٰ ته عذرونه پیش کړی او هغه ورله عذرونه قبول کړی نو په دے ایت کښ جواب دے . يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دلته عبارت دا سے دے وَيُقَالُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (او ویلے به شی دوی ته په ورځ دَ قیامت) چه اے کافرانو نن ورځ بهانے مه کوئ . نن دَ جزا دَ خپل عملونو نه نشئ . بچ کیدلے .

أَنْ يُّكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنّٰتٍ

لرے کړی ستاسو نه بدے ستاسو او داخل به کړی تاسو جنتونو ته

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُۙ يَوْمَ لَا يُخْزِى اللّٰهُ

چه بهیږی لاندے دَ هغی نه دَ لے په هغه ورځ چه نه به شرمنده کوی الله تعالیٰ

النَّبِىَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗۚ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى بَيْنَ

نبی لره او هغه کسانو لره چه ایمان ئې راوړے دے دَ هغه په ملګرتیا کښ. رڼا دَ دوی به منډے وهی

اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا

مخے دَ دوی ته او په ښی طرفونو دَ دوی دوی به وائی اے ربه زمونږ پوره پوره ساتے مونږ لره

نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَاۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ ⑧

رڼا زمونږ او بخښه اوکړے مونږ ته یقیناً ته په هر څیز باندے قدرت والا یې.

ـه هرکله چه مخکښ ایت کښ معلومه شوه چه دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه په بهانو سره نجات نه حاصلیږی بلکه صرف په توبه سره نو اوس ترغیب ورکوی توبه کولو ته او توبه کول فرض عین دی په هرحالت کښ اوخصوصاً په حالت دَ ګناه کولو کښ.

تَوْبَةً نَّصُوْحًا دا دَ نصح نه ماخوذ دے دَ خیری نه پاکول یا په معنیٰ دَ جامے ګنډلو سره دے نو په اوله معنیٰ سره اخلاص په توبه کښ مراد دے او په دویمه معنیٰ سره دا مناسبت دے چه په ګناه کولو سره تعلق دَ الله تعالیٰ سره او شلیدلونو دا سے توبه پکار ده چه هغه بیا اوګنډلے شی او دَ توبه نصوح په تعریف شرعی کښ قرطبی د روېشت [۲۳] اقوال ذکر کړے دی.

او ابن کثیر دا قول غوره کړے دے چه توبه نصوح دا ده چه ګناه کول فی الحال پریږدی او په تیر شوی باندے پښیما نه شی او عزم اوکړی چه ګناه به نه کوی په مستقبل کښ او که حق دَ بنده وی نو هغه دِ دے ادا کړی او په توبه نصوح کښ دا اختلاف دے چه ایا دا شرط دے چه ترمرګه پورے به دغه ګناه نه کوی او یا دا چه عزم اوکړی چه بیا به ئې نه کوی!

ظاهر دَ نور روایاتو نه دویم قول دے او په دے مقام کښ ر پاتے په بل مخ)

يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَاغْلُظْ

اے نبی جهاد کوه دَ کافرانو سره او دَ منافقانو سره او سختی اوکړه

عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ⑨

په دوی باندے او ځائے دَ دوی جهنم دے او بد ځائے دَ ورګرځیدلو دے۔

واقعه دَ نصوحا شخص موضوعی واقعه ده دَ آیت سره دَ هغے تعلق نیشته۔
عَسٰی رَبُّکُمْ عسٰی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ یقین دَ پاره دے او په دے کښ دَ توبه نصوح دوه فائدے ذکر کوی اول دفع دَ ضرر چه سیئات معاف کیدل دی او دویم جلب دَ منفعت چه جنتونه او رنړا حاصلول دی۔ لَا یُخْزِی اللّٰهُ النَّبِیَّ دَ دے ذکر دَ دے سورت په تیر شوے آیاتونو سره مناسبت لری یعنی الله تعالیٰ خپل نبی دنیا کښ نه رسوا کوی بلکه دَ هغه مدد کوی لکه چه فان الله هو مولاه کښ ذکر شول نو دا رنګ په آخرت کښ ئے هم نه شرمنده کوی وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا هغه مؤمنان چه په دُنیا کښ ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلم ملګرتیا کړیده لکه چه صالح المؤمنین مخکښ تیر شول۔ نُوْرُهُمْ یَسْعٰی الخ دا سے په سورة حدید ۱۲ کښ ذکر شویدی او شمائلهم ذکر ئے نه دے کړے دَ دے وجے نه چه هغه طرف نه منافقان او کافران او جهنم دے یا دَ هغے ذکر ئے مقائسه په پریخو دلے دے۔
اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا په دے آیت کښ نور دَ اتباع دَ رسول او دَ توبة نصوح دے هر کله چه دَ منافقانو نور ناقص دے دَ دے وجے نه مؤمنان دَ اتمام نور دُعا غواړی۔
وَاغْفِرْ لَنَا دُعا دَ مغفرت هر وخت دَ تعبّد دَ پاره ده اګرچه ګناهونه دَ دوی معاف کړے شویدی یا مراد دَ مغفرت نه بخشش دَ صغائرو دے په دے خوف سره چه چرته دَ اتمام دَ نور نه مانع او نه ګرځی۔
۹ دا دویم خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته ربط ئے اول خطاب سره دا دے چه اے نبی دَ مخلوق او دَ بیبیانو دَ رضا کولو کوشش مکوه بلکه هغوی ته دعوت ورکړه او دَ کافرانو او منافقانو سره جهاد اوکړه دا ډیر اهم دے دا رنګ ذکر شوه نرمی دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ کمزورے مخلوق سره چه زنانه دی نو اوس هغه ته حکم ورکوی په سختئ کولو دَ ناکاره خلقو سره۔
جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِیْنَ دا رنګ په سورة توبه ۷۳ کښ هم ذکر شوے دے۔

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ

بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال کافرانو لره دَ ښځې دَ نوح علیه السلام

وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ۗ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ

او دَ ښځې دَ لوط علیه السلام وے دا دواړه په نکاح دَ دوه بندګانو کښې دَ

عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا

بندګانو زمونږ نه چه نیکان وُو نو نقصان اوکړو دوی دَهغوی سره نو دفع نه کړه هغوی دَ دوی نه

مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ⑩

دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه هیڅ خیز او اویلے شو داخلې شئ اُور ته سره دَ داخلیدونکو نه -

جهاد عام دے دَ قتال نه. هر قسم کوشش او محنت صرف کول دَ پاره دَ اشاعت او دَ غلبے دَ دین حق ته جهاد ویلے شی وَ اغْلُظْ عَلَيْهِمْ دا متعلق دے دَ المنافقین سره او مراد دَ دے نه دَ دوی اوصاف قبیحه ذکر کول دی دوی ته زور نه ورکول او په دوی باندے حدود شرعیه قائمول دی او دا امور دَ ښکاره کافرانو سره نیشته یا واغْلُظْ عَلَيْهِمْ متعلق دے دَ دواړو سره نو مراد دَ دے نه تشدد او کلک والے دے په دین کښې مقابله دَ دواړه ډلوکښې په اقامة دَ حجة سره په دواړو باندے او په تخویفات دنیویه او اخرویه ذکر کولو سره -

سټ په دے کښې تنبیه ده زنانو ته پشان دَ ابتدا دَ سورت په ایمان او توحید او په اتباع دَ رسول صلی الله علیه وسلم سره یعنی که اے زنانو ستاسو خپله ایمان او عمل صالح نه وی نو دَ خاوندانو عمل تاسو ته فائده نه درکوی او دا رنګ دا هم یو تفسیر دَ جَاهِدُ وا او دَ وَاغْلُظْ دے او جواب دَ وهم دے چه ایا مشرکانو زنانو او سړو ته دَ موحدینو خپلولی څه فائده ورکوی ؟

حاصل دَ جواب دا دے چه خپلولی دَ نیکانو هیڅ فائده نه ورکوی کله چه دَ نیکانو نه په عقیده او عمل کښې مخالفت وی لکه چه ښځې دَ نوح علیه السلام او ښځې دَ لوط علیه السلام ته زوجیت دَ پیغمبرانو هیڅ فائده ورنکړه -

امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ لفظ دَ زوجه ئې نه دے ویلے ځکه چه دَ دوی دَ خاوندانو سره موافقت دَ عقیدے نو وُو صرف نکاح وُو دَ پاتے په بل مخ)

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ

او بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال مؤمنانو لره د ښځې د فرعون

اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

کوم وخت چه اُویل هغې اے ربه زما جوړ کړے ما لره ستا په خوا کښې کور ته په جنت کښې

وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ

او بچ اوساتے ما لره د فرعون او د عمل د هغه نه او بچ اوساتے ما لره د قوم

او زوجه هغه مقام کښې ذکر کیږی چه د ښځې او خاوند موافقت وی۔
كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ اه په دے تعبیر کښې اشاره ده چه د دوی د هغوی سره شپه او ورځ محبت وؤ او ژوند د یو بل سره تیرول وؤ خدمت او د نکاح فائدے اخستل وؤ۔
او عبدین او صالحین دلالت کوی چه د انبیاء علیهم السّلام کمال هم دا دے چه په هغوی کښې عبدیت د الله تعالیٰ د پوره اطاعت سره موجود دے۔
فَخَانَتَاهُمَا ابن کثیر وئیلے دی چه مراد د خیانت نه فاحشه او بدکاری کول نه دی ځکه د انبیاؤ بیبیانے د زنا نه پاکے دی اګرچه کفر او شرک یا نفاق پکښې وؤ او قرطبی وئیلے دی چه دا د مفسرینو اجماع ده۔ "چه د دے دواړو خیانت دا وؤ چه د خاوندانو نه ئې پټ کفر او شرک کوؤ۔ او د هغوی رازونه به ئې د هغوی دشمنانو ته رسول"۔
فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا اه قرطبی وئیلے دی چه دا تنبیه ده چه عذاب د الله تعالیٰ په طاعت سره دفع کیږی په وسیلو سره نه دفع کیږی او رد دے په مشرکانو باندے چه هغوی وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم به زمونږ د پاره شفاعت کوی۔
وَقِيْلَ دا قول د الله تعالیٰ او د ملائکو د طرف نه دے د دے وجے نه فاعل ذکر کولو ته حاجت نیشته۔
مَعَ الدَّاخِلِيْنَ اشاره ده چه د دوی نسبت هغه انبیاؤ ته په شان د نورو مشرکانو پردو خلقو شو چه هغوی اور ته داخلیږی او د انبیاؤ شفاعت ورته هیڅ فائده نه ورکوی نو د غسے شان د دے بیبیانو هم اوګرځیدلو۔

الظّٰلِمِيْنَ ⑪ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ

ظالمانو نه	(او بیان کړي شي مثال) دَ مریم	لور	دَ	عمران	هغه	زنانه

ــلــه دا جواب دَ دویم وهم دے چه ایا نیکانو نارینو او زنانو ته دَ مشرکانو خپلولی ضرر ورکولے شي؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هرکله دَ انسان عمل صالح وي نو دَ مشرک سره خپلولی او نکاح وغیره مؤمن ته هیڅ ضرر نه ورکوي او دا دَ یو بل دَ مؤمنانو دَ پاره یو مثال دَ دے وجے نه په دے کښ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اُوئیلے شو او دا رنګ پلا مثال کښ تشجیع ورکول دي مؤمنانو ته چه زنانه دَ فرعون دَ دین حق او اتباع دَ موسٰی علیه السلام دَ پاره خپل خومره شجاعت ښکاره کړو او اخرکار شهیده کړے شوه نو اے مؤمنانو په تاسو هم واجب دي چه دَ توحید دَ پاره دا سے شجاعت ښکاره کړئ.

اِمْرَءَةَ فِرْعَوْنَ دلته هم دَ ښځے خاوند په کور نئ کښ مخالفت دَ عقیدے دے دَ دے وجے نه زوجه ئے نه ده ذکر کړے. او په دے دواړو مثالونو کښ تعریض دے عائشه او حفصه رضی الله عنهما ته په اول کښ تحذیر وو چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ مخالفت نه ځان بچ اوساتی او په دویم کښ ترغیب دے طاعت ته پښتان دَ امرأة فرعون او دَ هغے نوم اسیه لور دَ مزاحم وه او په موسٰی علیه السلام ئے ایمان راوړے وو. او فرعون دے له قسما قسم سزاګانے ورکولے او اخرکار ئے دَ هغے لاس او خپے اوتړلے او په سخت نمر کښ دَ هغے په بدن باندے ګرے کټے کیخودلے او په لاسو نو او خپو ئے ورله میخونه ټک وهل په دغه سخت حالت کښ هغے دا دُعا اوغوښتله رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا اه دلیل دے چه په دا سے حالت کښ الله تعالٰی ته تضرّع کول ډیره فائده ورکوي او لفظ دَ عندك کښ اشاره ده هغه قول مشهور ته چه اَطْلُبِ الْجَارَ قَبْلَ الدَّارِ (دَ کور نه وړاندے دَ همسایه معلومات اوکړه).

وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ "دَ دهٔ دَ مجلس او دَ نکاح نه".

وَعَمَلِهٖ مراد دَ دے نه عمل دَ کفر او دَ شرک دَ هغه دے یا دَ هغه دَ طرف نه عقوبت او ظلم کول دي.

مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ مراد دَ دے نه قوم دَ فرعون دے چه هغه ټول ظالمان وو په سبب دَ کفر او شرک، او ظلم کوونکي وو په مؤحدینو بنی اسرائیلو باندے یا مراد دَ دے نه صرف هغه کسان دي چه دَ فرعون په امر ئے سزا ورکوله دغه بي بي ته.

أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا

چه بچ ئې اوساتلو عورت خپل نو پوکے اوکړو مونږ په هغه کښ د روح دَ طرف نه زمونږ نه

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتْ

او تصديق کړے وو دے دَ کلمو دَ رب خپل او دَ کتابونو دَ هغه او دا وه

مِنَ الْقَٰنِتِينَ ﴿١٢﴾

دَ پوره تابعدارے کوونکو نه ۔

١٢ دا دويم مثال دے دَ پاره دَ اهل ايمان او په دے کښ هم اول مقصد دا دے چه دشمنانو (يهوديانو) په مريم عليها السلام باندے طعنونه لګول ليکن هر کله چه هغه پاکدامنه وه او په کلماتو دَ الله يقين کوونکے وه نو طعنونو دَ دشمنانو هغې ته هيڅ ضرر ورنکړو دَ هغې په درجه عندالله کښ هيڅ نقصان رانغے دا رنګ مؤمن صالح داعي الى الله باندے که دشمنان دَ دين طعنونه او بهتانونه لګوي خو چه دَ هغه لمن پاکه وي او په کتاب دَ الله تعالى باندے کلک وي نو هغه ته هيڅ ضرر او نقصان نشي رسولے۔ دا رنګ په دے کښ تشجيع ده مؤمنانو ته چه يو زنانه (بے خاونده) دَ الله تعالى دَ دين دَ پاره په ځان باندے مصيبتونه تيروي او دين بيانوي نو تاسو باندے خو دَ هغې نه زيات کوشش صرف کول پکار دي ځکه چه نارينه يئ او ابن قيم رحمه الله اعلام الموقعين کښ دَ دے امثالو نه تشريح کړے ده حاصل ئې دا دے چه په دے کښ دَ درے قسمو زنانو ذکر دے اول قسم هغه چه خاوند ئې مؤمن وي او ښځه کافره وي نو ايمان دَ هغه ذے ښځې ته فائده نه ورکوي۔ دويم قسم هغه زنانه چه خاوند ئې کافر وي او دا مؤمنه وي نو دَ خاوند کفر دې ته ضرر نه رسوي۔ دريم هغه چه خاوند ئې نيشته نه مؤمن او نه کافر نو دا سے ښځې ته عدم دَ خاوند هيڅ ضرر نه ورکوي۔ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا اشاره ده چه يهوديانو په دے باندے په دروغه طعن دَ بد کارئ لګولے وو دا خو پاکدامنه وه بلکه دَ نکاح او زنا دواړو نه ئې خپل ځان بچ ساتلے وو۔ فَرْج نه مراد ګريوان دَ هغې دَ قميص دے ځکه نفخ دَ روح دَ هغې په ګريوان کښ کړے شوے وو يا مراد دَ فرج نه معنى معروفه ده او فِيهِ کښ مضاف محذوف دے يعني في جيب درعها او دا سے په سورة الانبياء ٩١ کښ تير شوي دي ۔

سوال:- په هغه سورت کښې ضمير مؤنث (فيها) ذکر دے او دلته ضمير مذکر دے؟
جواب:- لفظ دَ فرج مذکر او مؤنث دواړه استعماليږي نو دَ لفظ دَ دواړه جهتونو حق ادا کړے شو لکه لفظ دَ نفس شو۔ بيا هر کله چه په سورة الانبياء کښې لفظ مريم او بنت نه دَ ذکر کړے نو ضمير دَ مؤنث ئے ذکر کړو دَ پاره دَ دفع کولو دَ احتمال دَ تذکير او په دے ايت کښې مريم او بنت صراحةً موجود دي نو ضمير دَ مؤنث ته ضرورت نه راځي فَنَفَخْنَا دَ دے نه مخکښې اَرْسَلْنَا اِلَيْهَا جِبْرَئِيْل فَتَمَثَّلَ لَهَا مقدر دي په قرينه دَ سورة مريم سره۔ وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا امام فراء وئيلي دي چه مراد نه دينه احکام شرعيه دَ الله تعالیٰ دي چه په ذريعه دَ کلماتو سره په تورات او انجيل کښې نازل کړے شوي وو۔ او کلمات دَ جبريل چه په سورة مريم ۱۹ ۲۱ ۲۲ کښې ذکر دي هغه هم پکښې داخل دي او دَ دے صفت دَ وجے نه مريم ته صديقه وئيلے کيږي او دا مقام دَ کمال دَ ايمان دے۔ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِيْنَ دا مرتبه دَ کمال دَ عمل ته اشاره ده يعني قوّة علميه ايمانيه او عمليه پکښې دړے واړه کامل وو۔ وَكَانَتْ بخپله معنی سره دے او مراد دا دے چه دَ عمل په لحاظ سره دا دَ قانتينو نه وه او مِنْ په دے معنیٰ سره تبعيضيه دے يا كَانَتْ په اعتبار دَ ولادت او دَ نسب سره دے او من په معنیٰ دَ ابتداء سره دے او القانتين نه مراد خاندان دَ هغے دے، چه اولاد دَ هارون عليه السلام په بنی اسرائيل کښې په ډيرے تقویٰ او قنوت سره مشهور وو۔
سوال:- القانتين مذکر ذکر شو دے وجه څه ده؟
جواب:- لفظ دَ قوم پټ دے يعني قوم قانتين يا اشاره ده چه دَ دے اطاعت او اخلاص خالص پشان دَ نارينو وو په شجاعت او حسن بيان کښې۔
الحمد لله، ختم شو تفسير دَ سورة تحريم، ثم الحمد لله چه اتم جلد اختتام ته اورسيدو۔

يا الله دَ دے تفسير په ليکونکو رحم اوکړے آمين۔
کاتب:- ارقم جان
کلے حسن خيل بخشي پل
پيښور